تاریخ مرصع

تالیف دَ

افضل خان خټک

مقابله، تصحیح او نوټونه

لهٔ

دوست محمد خان کامل مومند

تاریخ مرصّع

تالیف د

افضل خان بن اشرف خان بن

خوشحال خان خټک

مقابله، تصحیح او نوټونه

له

دوست محمد خان کامل مومند

یونیورسټي بُک ایجنسي، پېښور

جمله حقوق د پبلشر په حق کښې محفوظ دي

دکتاب نوم : تاریخ مُرصّع

تالیف : افضل خان

داشاعت کال : مئي ۲۰۰٦ء

دچاپ ځاي: جدون پریس پېښور -

ناشران : یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښو

فون:۲۲۱۴۵۳۴

ترون

د مولینا

عبدالقادر مرحوم

په یاد پورې

پڑھی نماز جنازے کی میری غیروں نے
مرے تھے جن کے لئے وہ رہے وضو کرتے

عُذر

د پښتنو کوم تاریخونه چې مې یاد کړي دي باید چې ورسره مې "حالنامه" نومې کتاب هم یاد کړې وې. دا کتاب د بایزید اورمړ او د هغهٔ د خاندان یوهٔ ارادتمن علي محمد مخلص قندهاری په فارسي ژبه کښې د اورنګ زیب عالمګیر په عهد کښې لیکلې وهٔ او د بایزید اورمړ او د هغهٔ د اولاد احوال د اورنګ زیب د عهد تر اوائل په ډیر عقیدتمندانه او جانبدارانه رنګ کښې بیانوي.

بسم الله الرّحمٰن الرّحیم
نَحْمَدُهٗ وَ نُصَلِّیْ عَلیٰ رَسُوْلِهِ الْکَرِیْمِ مُحَمَّدٍ خَاتَمَ النَّبِیّٖنَ

مقدمه

د کتاب او صاحب کتاب پیژندګلو

نوا را تلخ تر می زن چو ذوق نغمه کم یابی
حدی را تیز تر می خوان چو محمل را ګران بینی

تاریخ مرصع لکه چې د شهرت له قبله نهٔ صرف د پښتون د تاریخ عالمانو او طالبانو ته بلکې عام لوستونکیو ته هم ښکاره ده د خوشحال بابا اعني د پښتنو د لوی قومي سردار، شاعر، اديب او مفکر خان علیین مکان خوشحال خان ختک د مشر زوي اشرف خان هجري د مشر زوي افضل خان تاليف دے. او د پښتون په تاريخ ګنو ليکونکيو ورته حواله کړې ده خو تراوسه چې دا کتاب ښاغليو لوستونکيو ته وړاندې کيږي، سيوا له يوې ډيرې لږې برخې چې مشهور خاتيز پوه ميجر راورټي د پښتو نثر او نظم د انتخاب په خپلې مجموعې "ګلشن روه" کښې شامله کړې وه، تاريخ مرصع چاپ نهٔ وه، دغه برخه د لوې ميچ په دريو پنځوسو مخونو مشتمله ده. هم له دغو مخونو نيمو ته نزدو (۱ تر ۱۲، او ۳۶ تر ۳۹) يو بل خاتيز پوه پادري ټي بي هيوز د پښتو نثر او نظم د انتخاب په خپلې مجموعې کښې د "کليد افغاني" په نامه ئې چاپولې او خورولې وه، ورګډه کړې وو. په "ګلشن روه" کښې مخونه له ۱ تر ۵۳ او په "کليد افغاني" کښې له ۲۰۷ تر ۲۴۰ دي. هرکله چې د "کليد افغاني" ترجمه ټيرور چيچلے پلاؤډن په انګريزي کښې (سره د مفصلو او مفيدو ځنډو) کړې ده نو دغسې د تاريخ مرصع ياده شوې برخه د انګريزي خوانو تر لاسه هم شوه. پرته له دغې برخې د يو څو نورو ترجمه او مطالب هم ميجر راورټي په خپل کتاب "نوټس آن افغانستان" کښې شامل کړي وو نو له دغه مخه ورته انګريزي خوانو لره رسائي حاصله وه.

نهٔ شو وئيلے چې کومو ليکوالو تراوسه "تاريخ مرصع" ته حوالې کړې په هغو کښې د څو يا څو کومو نسخو يا کومې قلمي نسخې ته رسائي شوې وه. ما په خپل کتاب "خوشحال خان خټک" (اردو) چې "ادارهٔ اشاعت سرحد پېښور" په ۱۹۵۱ء کښې چاپولے او خورولے دے د ليکلو په وخت پرته له "ګلشن روه" او "کليد افغاني" او نورو ګنو کتابونو د "تاريخ مرصع" له دوؤ قلمي نسخو، يوه نيمګړې د شيدو او بله بشپړه د هوتي او د يوې دريمې قلمي نسخې له اقتباساتو چې ګران مهربان ډاکټر سيد انوار الحق صاحب کړې او بل خوږ دوست ښاغلي محمد نواز خان خټک رابخښلي وو استفاده او ورته مې حواله کړې وه.

د کتاب "خوشحال خان خټک" د ليکلو په وخت د لټون او تيارى په دوران کښې ئې يو وخت راته له مرحوم خان بهادر محمد زمان خان صاحب خټک دا هم معلومه شوې وه چې د تاريخ مرصع يوه قلمي نسخه په "دي پنجاب پبلک لائبريري لاهور" کښې هم شته. خو ما دا نسخه د خپل ياد شوي کتاب تر چاپ کيدلو او خوريدلو ونۀ کتلې شوه.

چې په کال ۱۹۵۴ ء کښې په پيښور يونيورستۍ کښې پښتو اکيډمي بنا شوه او وررومبنے ډائريکټر ئې مولانا عبدالقادر صاحب (مرحوم) وټاکل شو نو څۀ موده پس مرحوم چې په ما ئې ډير شفقت او راسره ئې ډير محبت وۀ او له دې قبله ئې زما په حقله ډير ښۀ او نيک ګمان هم لرلو زۀ ئې راوغوښتم او را وې وئيل چې زۀ ډير ډير او بيا بيا غواړم چې د پښتو اکيډمي له لوريه "تاريخ مرصع" چاپ او خور شي. او په دغه لړ کښې وررومبے کار د کتاب کم از کم يوه نسخه تر لاسه کول دي. او هر کله چې تا ځنې نسخې ليدلې دي نو ما لره صلاح راکړه چې کومې نسخې يا نسخه به حاصلول آسان او مفيد وي. هر کله چې د شيدو او هوتي د نسخو د حاصلولو په باب مشکلات راته جوت وو نو هغه مې وربښکاره کړل او عرض مې وکړو چې بهتره به وي چې د "دي پنجاب پبلک لائبريري لاهور" د قلمي نسخې د فوټو سټيټ د حاصلولو دپاره مرسته وکړل شي. مرحوم زما رائې خوښه کړه او د يادې شوې نسخې د فوټو سټيټ د حاصلولو نه پس چې د هغوي تر پامه پښتو اکيډمي د تاريخ مرصع چاپولو او خورولو ته برابره شوه نو زۀ چې ئې بيا په بلنه ورغلم نو را وې فرمائيل چې زۀ ئې د سمولو او پرې د نوټونو ليکلو کار په خپله ذمه واخلم نو هر کله چې هم د مرحوم خاطر رابانـدې ډير ګران وۀ او پخپله مې هم له ډيرې مودې راهسې غوښتل چې د پښتو دا زوړ او سودمند تاريخي، علمي او ادبي اثر چاپ او خور او په علم د مينانو عموماً او د پښتنو پوهانو، طالبانو او لوستونکيو خصوصاً په کار راشي نو ما دغه ذمه واري قبوله کړه.

د ۱۹۶۰ ء په اواسطو کښې چې ما کار شروع کولو نو راسره صرف د بره يادې شوې يوې قلمي نسخې فوټو سټيټ، تر غبرګ پنسلي نقل چې د مرحوم مولانا صاحب په امر د اکيډمي کاتب مولانا سيد مياں سناء الدين صاحب کاکاخيل کړے وۀ، د پروفيسر برنارډ ډورن د مخزن افغاني انګريزي ژباړه او تعليقات وو. خو وخت په وخت نورې نسخې (چې کتابيات کښې ئې ذکر شوے دے) د اصل قلمي د نقل يا د مائيکرو فلم په شکل تر لاسه کيدلې او ورسره مو د تاريخ خان جهاني مخزن افغاني يوه قلمي او بله چاپه نسخه (دوه جلده) هم بيامونده. علاوه له ديو دستاويزاتو ما څخه د هوتي او شيدو د نسخو ځنې يادداشتونه او هغه اقتباسات (زما د کړي نقل په شکل کښې) چې له بره يادې شوې يو دريمې نسخې شوي

وو، هم وو. نو دغسي مونږه د کار په ابتداء کښې د "دي پنجاب پبلک لائبريري لاهور" نسخه اساس وګرځوله او نورو نسخو سره مو ئې مقابله کوله. په دې لړ کښې د هوتي او شيدو له نسخو د يادداشتونو نه علاوه ما دغو اصل نسخو سره هم د خپلې اساسي نسخې ډير ځايونه مقابله کړل او تر خپله وسه او پوهې د دغې مقابلې او تصحيح نه پس مې پرې نوټونه وليکل.

دا کتاب اعنې تاريخ مرصع بايد چې په دريو برخو کښې وويشل شي. اولنۍ برخه چې د خواجه نعمت الله هروي د مخزن افغاني له فارسي په پښتو ژباړه ده دويمه برخه د مغلوالې د څنو پښتنو امراؤ له حالاتو شروع کيږي او د خوشحال بابا په وفات د اشرف خان هجري په ليکلې شوې مرثيه ختميږي او په حقيقت کښې د پښتونخوا او پښتنو د تاريخ له نقطهٔ نظره د کتاب له ټولو زياته اهمه برخه ده. څکه چې هم په دغه برخه کښې د پښتنو په خپله زمکه د هغو په خپل هيواد کښې ئې تاريخ بيان شوے دے چې زمونږ د ډيرو ملي تحريکونو او په کښې د کردارونو احوال رابرڅيره کوي او جوتوي ئې. اګر کهٔ مؤلف د دغې برخې د ليکلو دپاره هم علاوه له خپلو تجرباتو او له ډيرو فارسي او پښتو ماخذونو پور کړے دے خو په هر حال هم دا بشپړ اصل پښتو کتاب دے. د دغې برخې بل خصوصيت او اهميت دا دے چې پکښې مؤلف څو ځايه د خوشحال بابا له بياضه ډير وړدهٔ اقتباسات کړي دي چې نهٔ صرف ډير مفيد او ضروري تاريخي معلومات لري بلکې د پښتو د نثري ادب ډيرې سترې شهپارې هم دي. بيا هم په دغه برخه کښې مؤلف د خوشحال بابا يو عظيم نظم "سوات نامه" رانقل کړے دے چې هم په يوهٔ وخت د شعر او فن هم د ژوند د حقائقو او هم ماحول سره ئې د ګډون يوه ډيره ښکلې نمونه او له دې رويه يو لوے شاهکار دے. وروميے له دې چې د دريمې برخې په حقله څهٔ ووئيل شي بايد چې دا وضاحت وکړل شي چې مؤلف د کومو پښتنو امراؤ حالات ليکلي دي په هغو کښې يو بلکې اولنے خان جهان لودي دے. مخزن افغاني هم د دغه ښاغلي لوے امير د سرپرستي لاندې ليکلے شوے وهٔ. د مخزن افغاني دوه ايډيشنونه دي. (۱) مخزن افغاني او (۲) تاريخ خان جهاني مخزن افغاني. دواړه تقريباً هم يو شے بلل کيدل شي. صرف څنې لفظي اختلافات او څنې ځايونه د تفصيل او اختصار بيلتون لري. پرته له نورو فرقونو ئې يو دا دے چې تاريخ خان جهاني مخزن افغاني د نواب خان جهان لودي د احوالو په باب هم يوه ډيره وړده مقاله لري. خو هر څو کهٔ افضل خان د نواب خان جهان لودي د حالاتو د ليکلو دپاره له خواجه نعمت الله استفاده کړې وي (اګر کهٔ يقيناً نهٔ شو وئيلے څکه چې د افضل خان ژباړه له تاريخ خان جهاني نه بلکه له مخزن افغاني ده) ترجمه ئې تري نهٔ ده کړې.

دي دپاره هم چې خواجه نعمت الله د هیبت خان په ملګرتیا خپل کتاب د جهانګیر بادشاه په عهد کښې په اواخر ۱۰۲۱ ء تر اتمامه رسولو نو نواب خان جهان لودي ژوندے وۀ. او الفضل خان د نواب تر شهادته (چې ډیره موده پس واقع شوے وۀ) د هغۀ ځنې حالات لیکلي دي. د کتاب دریمه برخه چې مونږ به ورته د مخزن افغاني دریمه برخه وایو د پښتنو اولیائے کرام حالات او د پښتنو ځنې انساب بیانوي. دغه برخه لکه چې په نوټونو کښې ئې وضاحت شوے دے جزواً د مخزن افغاني ژباړه او جزواً د الفضل خان خپل لیک دے ځنې انساب لکه د غوري، خښي او د ختکو الفضل خان د کتاب په دویمه برخه کښې هم بیان کړي دي او هر کله چې د ختکو انساب سره د هغو د بیلو بیلو تپو د ذکر او د خانه شماریو ئې پکښې ډیر په تفصیل راغلي دي نو په دریمه برخه کښې ئې د ختکو انساب بیانول غیر ضروري ګڼلي دي.

مناسب به وي چې د تاریخ مرصع د قدر او قیمت صحیح اندازه کولو دپاره چې تر ترې وروستو د پښتنو کوم تاریخونه لیکلي شوي دي یا نو رکتابونه چې سره د نورو د پښتنو تاریخ هم لري په هغو کښې هم د ځنو مشهوررو کتابونو په حقله څۀ وړلیل شي. په دغه سلسله کښې به د لاندې یادو شویو تاریخونو په باب وینا کول مناسب وي:

(۱) واقعات مشتاقي تالیف د شیخ رزق الله په فارسي ژبه کښې : د قاموس المشاهیر مؤلف نظامي بدایوني لیکي چې شیخ رزق الله دغه تاریخ د سلطان سکندر په عهد کښې لیکلے وۀ. (جلد ۱) د قاموس المشاهیر فاضل مؤلف د سلطان سکندر په باب وضاحت نۀ دے کړے خو په هر حال مراد تري سلطان سکندر لودي نۀ شي کیدلے. اګر کۀ ما پخپله خو د دغه کتاب د لیدلو موقع بیا نۀ موندله خو د ایلیټ اینډ ډاؤسن د سلسلې په "افغان ډالینستیز" نومے ټوک کښې ورته د حوالو نه په ښۀ شان قیاسیدے شي چې د سوریانو د حکومت تر اخري دورې پورې واقعات بیانوي. نو ګوندې د سلطان سکندر نه مراد احمد خان سور مخاطب په سلطان سکندر وي. (وګورئ د خپل کتاب ص ۱۶۱ و ۱۸۹ وروستي صفحه د قلمي نسخې او دویمه د چاپ کتاب مطابق ده.) شیخ رزق الله د قاموس المشاهیر د مؤلف د وینا له رویه په ۹۶۹هجري (۱۵۶۱ء) او سلطان سکندر سور په ۹۶۲هجري (۱۵۵۷ء) کښې وفات شوے وۀ. ډاکټر عبدالرحیم د سکندر سور له مغلو د شکست خوړلو کال ۱۵۵۷ ء (دي افغانز ان انډیا ص ۱۳۵) او پروفیسر بهټاچریا هم ئې د شکست کال ۱۵۵۷ ء او د مړینې کال ۱۵۵۸ ء لیکي. (اے ډکشنري آؤ انډین هسټري عنوان "سکندر خان سور" ص ص ۷۷۸.۷۹) خو ډاکټر عبدالرحیم د "دي افغانز ان انډیا" په کتابیات کښې د واقعات مشتاقي

د تالیف کال ۹۸۹ هجري مطابق ۱۵۸۱ ء لیکي. دغه ټول کلونه د اکبر بادشاه په عهد ۹۶۳ هجري مطابق ۱۵۵۶ ء تر ۱۰۱۴ هجري مطابق ۱۶۰۵ ء کښي راځي. کۀ د قاموس المشاهیر د مؤلف په وینا چي "واقعات مشتاقي" د سلطان سکندر په عهد کښي (یا د هغۀ په حکم یا ترغیب) لیکلے شوے وۀ او هم د تالیف د کال په باره کښي ئي د ډاکټر عبدالرحیم په لیک باور وکړو نو فرض کوو به چي شیخ رزق الله د خپل دغه کتاب د لیکلو اراده او آغاز د سلطان سکندر سور په عهد کښي کړے وۀ خو په بشپړولو ئي ډیر وخت لګولے وۀ. (د مؤلف د وفات کال به ئي هم ۹۶۹ هجري نۀ وي).

(۲) تاریخ شیر شاهي د عباس خان سرواني په فارسي ژبه کښي : د موصوف ډاکټر عبدالرحیم د لیک له رویه (د هغۀ د یاد شوي تالیف کتابیات) په ۹۹۵ هجري (۱۵۸۷ ء) کښي او د تاریخ شیر شاهي د مصحح او محشي پروفیسر ډاکټر سید امام دین (چي په انګریزي کښي هم ژباړلے او خنډي ئي پرې لیکلي دي) د لیک سره سم په ۹۹۴ هـ (۱۵۸۶ ء) کښي لیکلے شوے دے. (وګورئ د انګریزي ژباړي دیباچه) دواړه کلونه د اکبر بادشاه په عهد کښي راځي. دا کتاب د عباس خان سرواني د لوے یا بشپړ کتاب "تحفۀ اکبر شاهي" دریمه برخه ده خو له بده مرغه سیوا له دغي برخي نور کتاب نایاب دے. د کتاب دغه برخه د شیر شاه د نیکۀ او پلار هندوستان ته د تللو حال، د شیر شاه سوانح حیات او د هغۀ د حکومت د زماني اصلاحات بیانوي.

(۳) تاریخ داؤدي په فارسي ژبه کښي : د مؤلف نامه ئي عبدالله ده او د لودیانو او سوریانو د حکومتونو واقعات او حالات بیانوي. او د داؤد شاه ذکر هم لري. دغه کتاب هم ما پخپله نۀ دے لیدلے خو غالباً چي داؤد شاه چي حالات ئي پکښي راغلي دي د سلیمان کرلاني زوے دے. (وګورئ خپل کتاب ص ص ۱۶۷. ۱۶۸ او ۱۹۶ تر ۱۹۸) تاریخ داؤدي د جهانګیر بادشاه په عهد کښي لیکلے شوے وۀ. (د سید ریاست علي صاحب ندوي "عهد اسلامي کا هندوستان" ص ۲۳۳ او د ډاکټر عبدالرحیم "دي افغانز ان انډیا" کتابیات.

(۴) افسانۀ شاهان (فارسي) تالیف د محمد کبیر بن شیخ اسماعیل : دا کتاب هم د لودیانو او سوریانو د حکومتونو بیان لري. د مؤلف نیکۀ چي د اکبر بادشاه معاصر او یو پښتون روحاني پیشوا وۀ په راجګیر (بهار) کښي وسیدلو (د سید ریاست علي صاحب ندوي "عهد اسلامي کا هندوستان" ص ۲۲۳) سید صاحب موصوف ئي د تالیف تاریخ، کال یا زمانه نۀ ده ښیلے. ګوندي د جهانګیر یا شاهجهان په عهد کښي لیکلے شوے وي. د "دي افغانز ان انډیا" کتابیات د مؤلف او کتاب د نامو نه علاوه دا هم ښیي چي قلمي نسخه ئي په

برتش میوزیم کښې شته.

(۵) د خواجه نعمت الله هروي "مخزن افغاني"

تاریخ خان جهاني مخزن افغاني (فارسي) د کتاب ترجمه لکه چې وړومبې وضاحت شوې دې، زمونږ د کتاب په اولنی او دریمې برخې کښې راغلې ده. تاسو به ئې پخپله وخیرئ. دلته دومره وئیل کافي دي چې دا کتاب هم چې تر څو د پښتنو د تاریخ تعلق دې (علاوه له شجرو) په هندوستان کښې د هغوي تاریخ بیانوي. دا کتاب لکه چې وړومبې عرض وکړل شول د جهانګیر بادشاه په عهد کښې د ۱۰۲۱ هـ په اواخر کښې لیکلې شوې وۀ.

(۶) تاریخ سلاطین افاغنه د احمد یادګار (فارسي) :کتاب د سلطان بهلول لودي له عهده شروع کیږي او د د هیمون تر شکسته، ګرفتارئ او قتله پورې تاریخ بیانوي. د مؤلف د بیان له رویه هغهٔ دا تاریخ د داؤد شاه په وینا لیکلې دې چې هغهٔ ورته وئیل چې ضیاء الدین برني او د طبقات ناصري مؤلف د خپلو کتابونو په ذریعه کوم کار د خپلو زمانو د بادشاهانو دپاره کړې دې تهٔ ئې د پښتنو بادشاهانو دپاره وکړه. د ایلیټ اینډ ډاؤسن د سلسلې قاضل ایډیټر د مدلل قیاس له رویه د کتاب د تالیف زمانه کال ۱۰۲۰ هـ (عهد جهانګیري) ده. (وګورئ د سلسلې "افغان ډائینسیټیز ټوک ۱" نو کهٔ دا قیاس صحیح وي نو له مخزن افغاني یو کال یا څهٔ موده ترې زیاته آګاهو لیکلې شوې وهٔ. ډاؤسن لیکي چې داؤد شاه په ۹۸۳ هـ (۷۷ـ۱۵۷۶ء) کښې مړ وۀ. ډاکټر عبدالرحیم "دي افغانز ان انډیا" ص ص ۲۰۵ـ۳۰۸ او پروفیسر بهټیا چاریه (اې ډکشنري آؤ انډین هسټري ص ص ۲۸۱ـ ۷۹۲ او عنوانونه داؤد کراني او سلیمان کراني) هم د مغلو د شکست خوړلو نه پس د داؤد شاه د شهادت کال ۱۵۷۶ء لیکي. نو ګویا احمد یادګار هم خپل کتاب د سرپرست د مرګ نه ډیره موده پس مکمل کړې وۀ.

(۷) تاریخ افاغنه د خواجو ملیزي : مؤلف ئې د جهانګیر بادشاه په عهد کښې ژوند کاوۀ او غالباً چې کتاب ئې هم په دغه عهد کښې لیکلې دې. اصل کتاب خو اوس نایاب دې البته تلخیص ئې چې پیر معظم شاه د "تواریخ حافظ رحمت خاني" په نامه کړې دې دستیاب دې چې لږه موده اګاهو د پېښور یونیورسټی پښتو اکېډمی سره د بناغلي محمد نواز خان طائر د ډیرې عالمانه او مفیدې مقدمې چاپولې او خورولې دې. کهٔ "تاریخ حافظ رحمت خاني" د اصل کتاب هم تلخیص وي او سیوا له مکررات ترې څهٔ مواد حذف کړې شوې تهٔ وي نو اصل کتاب د خښي او غوري لیږدې، نورو قبائلو سره جنګونه، د خښي له دلازاکو، شلمانیو او سواتیو (مردان) اشنغر او سوات وغیرها د علاقو د غوري له دلازاکو د پېښور ه نیولو

واقعات او هم د دواړو وروڼو يو تر بله شخړې او جنګ جګړې بيانوي. "تاريخ حافظ رحمت خاني" قطع نظر هورې دلې د فارسی له جملو په پښتو کښې ليکلے شوے دے. ګوندې د اصل کتاب ژبه هم دغه ده. د خواجو د کتاب تلخيص د حافظ رحمت خاني په نامه په فارسی ژبه کښې حافظ محمد صديق هم کړے دے. پير معظم شاه او محمد صديق دواړه خو د اصل کتاب تاريخ افاغنه يا تاريخ خان کجو نسبت خواجو ته کوي خو الله يار خان د حافظ رحمت خان رحمة الله عليه زوے چې هغه په ۱۲۲۹ هجري مطابق ۱۸۱۴ء کښې د اصل کتاب ناکامه تلاش کړے وۀ نسبت ئې شيخ ميرداد موتيزي خليل ته کوي. (کيټلاګ آۋ پښتو مينوسکرپټس ان دي لائبريريز آۋ دي برټش آئيلز ص ۴۹)

(۸) تذکرة الابرار والاشرار د اخون درويزه (فارسي): اخون صاحب د اکبر بادشاه او د هغۀ د زوې او جانشين جهانګير بادشاه هممصر وۀ او غالباً چې دغه کتاب ئې د جهانګير په عهد کښې ليکلے وۀ. په دغه کتاب کښې په پښتونخوا کښې د ګمراهو او ګمراه کونکيو پيرانو (اشرارو) د پيدا کيدلو او په وجه ئې د باطلو اعتقادو خوريدلو او د نيکانو ئې په خلاف د پاسيدو او ورسره د مقابلې ذکر دے. پکښې جزوي انساب (د غوري او خښي) د دواړو وروڼو سره مخالفت پيداويدل او جنګيدل، د بايزيد اورمړ او د هغۀ د اولاد او ورسره د يوسفزيو، دلازاکو او مهمندزيو ميرڅي او جنګونه کول ئې علاوه له مذهبي بحثونو څنې اهم مضامين دي.

په بره يادو شويو کتابونو کښې کښې ۱ نه تر ۲ لکه چې د موضوعاتو يا مندرجاتو طرف ته ئې له اشارو اندازه کيدلے شي کۀ هر څو د پښتنو تاريخونه دي، د هغو پښتنو په باب دي چې صرف په نوغي يا ختره پښتانۀ وو دوي خپل هيواد او اولس پريښے په يوۀ بل هيواد، پردي ملک کښې ميشته شوي وو او کۀ د دوي د غيرو پښتنو خلاف د پښتنو د مفادو او سر لوړی دپاره خواه لېرې يا ډيرې، لويې يا وړې، هر څو يا هر څۀ کارنامې کۀ وي نو هم د هغو پښتنو دپاره وے چې لکه د دوي له خپله اولسه او هيواده بيل او لرې او خپل کور، دود او ژبه ئې هيره کړے بلکه بله زمکه ئې په کور نيولې او د هغې دود او ژبه يا فارسي ئې خپله کړې وه. کۀ مونږ هر څو په دغه هندوستانيانو پښتنو عموماً او په څنو لکه سلطان سکندر لودي، شير شاه سوري، نواب خان جهان لودي، نواب بهادر خان داؤدزي او وررور ئې نواب دلير خان او څو نورو هم خصوصاً له دې رويه وياړ کولے شي چې اصل ئې د پښتونخوا له خاورې وۀ په مقابله کښې ئې بايد چې هغه کسان زمونږ د پام او توجه او پرې د وياړ زيات وړ وګڼل شي چې نۀ صرف زمونږ له خاورې زيږيدلي وو بلکې دا خاوره ئې په زړو هم نۀ بدلوله. څان او تن

ئي هم دې خاورې لره وه او خپلې عنصري هستۍ ئې ورلره او ورسره خاورې کړې وې. او کردار ئې اوس هم موږ لره د کاروان جرس او د لارې ليت دې، لکه سلطان محمود غزنوي او شهاب الدين غوري رحمة الله عليهما او شيخ کمال الدين خان داؤدزی، ايمل خان مومند، خوشحال خان خټک، دريا خان افريدی، ميرويس غلځی او احمد شاه ابدالي بابا رحمة الله عليه او څو نور هم.

تر څو چې د اووم او اتم نمبر د کتاب تعلق دی نو اگر که دا دواړه کتابونه زموږ تاريخ هم زموږ په زمکه بريښوي هم د هغو کسانو يا کردارونو حال بيانوي چې د پښتونخوا له خاورې پورته شوي هم دلته وسيدلي هم په دغه ستيج لې خپل رول ادا کړی او آخر بيا هم خپلې خاورې سره گډ شوي او سم شوي دې خو د ورومبي کتاب موضوع ډېر لنډ تنگ دی اگر که د خپل موضوع په دائره کښې ښۀ او خوندناک تفصيلات لري او په پښتونخوا کښې د پښتنو له يادو شويو قامي مشرانو علاوه او له اکثرو اگاهو تېر شوي دوه پښتانۀ مشران ملک احمد مندړ او خان کجو مندړ را متعارفوي چې دواړه د ډېرو سترو صلاحيتونو څښتنان ليدل شي خو د توارث او ماحول د الزانو لاندې يا په نورو الفاظو کښې د پښتون لا د قوميت د ارتقائي منازلو د طې کولو په ډېرو ابتدائي مرحلو کښې د کيدلو له قبله په ډېره تنگه دائره کښې او د کوچنو مقاصدو دپاره پکارولی کيدل. کشکې د کتاب د بيان انداز او د مواد نوعيت هم لکه چې په څينو ځايونو کښې ليدل شي د داستاني نه زيات تاريخي وې او داسې بيانونه ئې هم چې گوندې رښتيا وي نۀ وې مشکوک کړې. دغه وخت د نظر د وړاندې په دوؤ کتابونو کښې د دويم کتاب مضامين چې څخو مختصراً اگاهو مذکور شوي دي ډېر ارخيز دي او زمونږ د علمي، روحاني او ذهني تاريخ په حقله د نظر له پوړې خاصې نقطې کۀ لوېه نه نو يوه وړه پنگه خو رابخښي او پرته له دې لکه چې عرض شوي دې څۀ لږ ډېر انساب او نور واقعات هم بيانوي. زياته توجه د عقائدو بيانولو او د مخالفينو غندلو ته شوې ده نو د کتاب د بيان انداز څخو له دې او بيا څۀ د ليکونکي د طبعې د افتاد له قبله د محققانه او مورخانه کيدلو په ځای مناظرانه او جارحانه دی.

په دغه لړ کښې پرته له بره يادو شويو کتابونو د هغو تاليفاتو ذکر کول هم مناسب او سودمن دي چې په مغلواله کښې په طور د هندوستان د عمومي يا عهد وارو تاريخونو ليکلي شوي دي. ورومبی له دې چې د دغو تاليفاتو نامې واخستل او په حقله ئې څۀ ووئيل شي د بابرنامې يا توزک بابري ذکر کول ضروري راليدل شي. بابرنامه يا توزک بابري تر څو چې د معلومو تاريخي آثارو تعلق دی ورومبی کتاب دی چې پښتانۀ پکښې په خپلو څينو اولسي

نوسونو او معلوم تاريخي هيئت بربښي او د هغوي د هيواد د ځينو برخو ليږ ډير جغرافيائي او معاشي کوائف بيانولو نه علاوه د پښتنو د ژبې پښتو او ورسره د نورو ژبو هر څو کهٔ د ويړنکيو ګڼه ئې په پښتونخوا کښې لږه ده ذکر هم کوي. په هندوستان کښې سلطان ابراهيم لودي لره د شکست ورکولو او ترې د ملک د نيولو نه اګاهو د بابر پښتنو سره د هغوي په زمکه څو ځلې تس نس او مرګ ژوبله شوې وه او مونږ په بابرنامه کښې د ديو جګړو حالات مومو او ځيرو ئ.

د هندوستان عمومي تاريخونه

(۱) طبقات اکبري د نظام الدين احمد (فارسي): اهم او معتبر کتاب دے او د موضوعاتو او مضامينو دائره ئې ښه پراخه ده. د غزنويانو له دوره د اکبر د عهد تر اووۀ ديرشم کال پورې حالات بيانوي. په کال ۲-۱۰۰۱ هجري (۹۴-۹۳-۱۵۹۲ء) کښې ليکلے شوے وهٔ.

(۲) منتخب التواريخ يا تاريخ بدايوني

د ملا عبدالقادر ملوک شاه بدايوني (فارسي): دا هم په عهد اکبري کښې ليکلے شوے معتبر او مشهور تاريخ دے. د غزنويانو له دوره د اکبر د عهد تر څلويښتم کاله (۱۰۰۴ هجري) حالات لري.

(۳) تاريخ فرشته د ملا محمد قاسم فرشته هندوشاه استرابادي (فارسي): مشهور کتاب دے چې په عهد جهانګيري کښې ليکلے شوے وهٔ. د کتاب په مقدمه کښې مؤلف د هندوانو ځنې عقائد او قديم تاريخ بيانولو نه پس په هندوستان، خراسان، غور او کابل وغيرها د مسلمانانو د حملو او فتوحاتو بيان کوي او په دې لړ کښې د پښتنو د نوغي او څهٔ لږ ډير تاريخ په باب هم د خپلې همه داني بنيئنه کوي چې ضمناً د الپتګين د سلطان محمود غزنوي د پلار امير سبکتګين ذکر هم لري او بيا ورپسې د سلطان موصوف نه د مغل اکبر بادشاه تر عهده، د هغهٔ تر مړينې پورې تاريخ بيانوي. ورپسې برخو کښې د ګجرات دکن وغيرها اعني د جنوبي هند او سند تاريخ دے او د شرقي سلطانانو حال هم لري چې د بعضو ذکر د لوديانو سلطان بهلول او سلطان سکندر د عهدونو په تاريخ کښې يو تر بله د مخالفت او جنګونو له قبله هم راځي. د حافظ رحمت خان رحمة الله عليه د زوي الله يار خان د تاليف عجائب اللغات له مقدمې (ص ۲ فوټوسټيټ د پښتو اکيډمي د لائبريري) ګوندې څوک دا وګڼي چې محمد قاسم هندو شاه نورس نامه نومے هم يو کتاب ليکلے وهٔ چې په هغهٔ کښې ئې هم د پښتنو ذکر کړے دے نو عرض دے چې ګلشن ابراهيمي او نورس نامه هم د تاريخ فرشته نامې دي. (د تاريخ فرشته سرورق او ص ۴ او د ايليټ اينډ ډاؤسن د سلسلې "سټډيز ان انډين هسټري"

وړومبي برخه ص ۵۱.
(۴) خلاصة التواريخ: د سجان رائے بټالوي (يا پټيالوي لکه چې بعضو مؤرخانو مثلاً ډاؤسن، سيد رياست علي ندوي او نظامي بدايوني ياد کړے دے) دا کتاب هم په فارسي ژبه کښې ليکلے شوے دے. مؤلف ئې د هندوستان د ستائنې د صوبو ئې او څنو هندوانو راجه ګانو د مختصرو حالاتو د ليکلو نه پس د اسلامي هند تاريخ له سبکتګينه د اورنګ زيب د عهد تر اغازه. د دارا شکوه د تعاقب کيدلو تر حاله پوري بيانوي. کتاب د اورنګ زيب په عهد کښې په ۱۱۰۷ هجري (۹۲ــ۱۶۹۵ء) کښې ليکلے شوے وۀ. د قاموس المشاهير مؤلف د سجان رائے مرينه هم دغه کال کښې ليکي. په ۱۹۶۲ء کښې مرکزي اُردو بورډ لاهور د دغه کتاب اردو ترجمه چې ډاکټر ناظر حسين صاحب زيدي کړې وه چاپ کړې او خوره کړې ده. د ايليټ اينډ ډاوسن په سلسله "ستهيز ان انډين هسټري" حصه ۲) کښې ترې په انګريزي کښې ژباړلے انتخاب هم شته. پروفيسر ډاؤسن (چې هغه ئې د مؤلف د نامې هجه د سجان رائے (Sujan Rai) په ځاے (Subhan Rai) سبحان يا سبهان يا سبهن رائے کوي) وائي چې خلاصة التواريخ د مختصر التواريخ نومے کتاب چې د مؤلف نامه ئې نۀ ده ښکاره بې اعترافه چربه ده. اګر کۀ د مختصر التواريخ د ليکل کيدلو کال هم چرته نۀ دے درج خو پروفيسر ډاؤسن مدلل قياس کوي چې د شاهجهانؒ د عهد په ابتدائي برخه کښې به ليکلے شوے وي. کۀ سجان رائے له مختصر التواريخه اخذ يا غلا هم کړے وي نو لکه چې پروفيسر ډاؤسن (د ايليټ اينډ ډاؤسن د سلسلې "ستهيز ان انډين هسټري حصه ۲" د مختصر التواريخ د مندرجاتو فهرست ورکوي. دا کتاب د اسلامي هند د بادشاهانو حالات له غزنويانو تر مغل همايونه بيانوي او سجان رائے خپل کتاب لکه چې عرض شوي دي د اورنګ زيب د عهد تر ابتدائي کلونو رسولے دے.
(۵) منتخب اللباب د محمد هاشم خافي خان نظام الملکي (فارسي): په هندوستان کښې د مغلوالي تاريخ له ابتداء د بابر له وخته د محمد شاه رنګيلا د عهد (۱۱۳۱ هجري) تر ۱۱۳۵ هجري کال په وړومبيو دوؤ جلدونو کښې بيانوي. دريم جلد د جنوبي هند دکن وغيره علاقو تاريخ لري. مشهور او عموماً د اعتبار وړ کتاب دے. لکه چې ډاکټر عبدالرحيم ليکي د "دي افغانز ان انډيا" کتابيات د ۱۷۴۸ء (۶۲-۱۱۶۱) هجري نه اګاهو ليکلے شوے وۀ.

عهدوار تاريخونه:

د بره يادو شويو عمومي تاريخونو نه علاوه د مغلوالي عهدوار سرکاري او هم غير

سر کاري تاریخونو کښې ځني مشهور او اهم چې د یادولو وړ دي دا دي:

(۱) همـایون نامه د ګلبدن بیګم لور د بابر بادشاه (فارسي:) مـختصراً د بابر بادشاه حـالات او د همایون بادشاه حالات له ابتداء د شیر شاه له لاسه ترشکست خوړلو، هندوستان پریښودلو او وروسته هم جزوي حالات ئې لري.

(۲) تـذکـرةالواقعات د جوهر آفتابچي (فارسي): د همـایـون بادشاه حالات د هغهٔ له تـخت نشیني [illegible]ر وفـاته بیانوي چې دوه دیرش کاله پس ترې په ۹۹۵ هجري ۸۷-۱۵۸۶ء کښې لیکلے شوے وهٔ. مؤلف د همایون بادشاه ملازم او په سخته راحته کښې ئې ملګرے وهٔ.

(۳) اکبرنامه تالیف د اکبر بادشاه د خاص مصاحب او وزیر ابوالفضل (فارسي:) د عهد اکبري مفصل سرکاري تاریخ دے او تر شپږ څلویښتم کاله ۱۰۰۹-۱۰۱۰ هجري) پورې ئې واقعات بیانوي.

(۴) تـوزک جهـانګیـري (فارسي): د عهـد جهـانګیـري (۱۰۱۴-۳۷ هـجـري مطابق ۲۷-۱۶۰۵ء مکمل سرکاري تاریخ دے. بادشاه خپل حالات د عهد د اوولسم کال تر وسطه (اګر کهٔ محمد هادي د اتلسو کالو وائي) پخپله لیکلي دي. وروسته د نولسم کال تر واقعاتو حـالات معتـمـد خـان لیـکـلي دي چې د بادشاه له باوري امراؤ بلکې "مزاج دانو ملازمانو او سـخن فهـمـو شاګردانو" وهٔ. له هغهٔ پسه د بادشاه تر وفاته ئې مرزا هادي کړے او دیباچه ئې پرې هم لیکلې ده.

(۵) اقبالنامه جهانګیري د معتمد خان (فارسي): د جهانګیر د عهد تاریخ د هغهٔ تر وفاته بیـانوي. دا هـم لـکـه د تـوزک جهانګیري د جهانګیر د عهد د سرکاري تاریخ حیثیت لري. بـلـکـې د تـوزک هـغـه برخه چې محمد هادي لیکلې ده هم د معتمد خان په بیاناتو مبني لیدهٔ شي.

(۶) بادشاه نامه د ملا عبدالحمید لاهوري (فارسي): د شاه جهان د عهد د وړومبیو شلو کالو سرکاري تاریخ دے.

(۷) عمل صالح یا شاه جهان نامه د ملا محمد صالح کمبوه لاهوري (فارسي): د شاه جهان د عهد بشپړ غیر سرکاري تاریخ دے.

(۸) عـالـمـګیـر نـامه د مرزا محمد کاظم (فارسي): د اورنګ زیـب عـالمګیر د عهد د وړومبیو لسو کالو سرکاري تاریخ دے.

(۹) مـآثر عالمګیري د مستعد خان محمد ساقي (فارسي) : د اورنګ زیب عالمګیر د عهـد مـکـمـل خو مختصرسرکاري تاریخ چې د هغهٔ د زوي او جانشین بهادر شاه اول په عهد

کښې لیکلې شوې وه.

هر کله چې د اکبر د عهد نه د پښتنو او مغلو یو تر بله کشمکش او پرله پسې جنګ جګړې شروع شوې وې چې د اورنګ زیب تر وفاته او ترې پسته هم لګیا وې نو د اکبر له عهده په مجموعي حیثیت په دیو عمومیو او عهدو وارو تاریخونو کښې مونږ د پښتنو د هغوې په خپله زمکه د هغوې د هیواد او خلقو په حقله ډیر زیات او اهم، او ګوښې ګوښې هم په ځني کتاب کښې ډیر او ځني کښې لږ مواد بیامومو. اورنګ زیب په ۱۱۱۸ هجري (۱۷۰۷ء) کښې او بهادر شاه اول په ۱۱۲۴ هجري (۱۷۱۲ء) کښې وفات شوې وه. او له بره تولو یادو شویو کتابونو زمونږ کتاب چې تر ۱۱۳۶ هجري (۲۴-۱۷۲۳ء) واقعات بیانوي (ماسیوا د خافي خان له منتخب اللباب چې نۀ شو ویلې چې هغه زمونږ له کتاب وروسته کۀ وروسته لیکلې شوې وه) پسته لیکلې شوې دې. هر څو کۀ د پښتنو او پښتونخوا د تاریخ په حقله د بهتر علم او پوره د پنې پوهې دپاره د دغو کتابونو مطالعه ډیره ضروري ده خو نۀ خو په دیو کښې کوم یو ځان له بېل او نۀ ګرد سره یو ځاې د پښتنو د ملک او اولس او د تاریخ په حقله لږ دومره مواد او معلومات لري څومره چې د افضل خان یو تاریخ مرصع. یو خو دې دپاره چې په مقابله د دغو نورو تولو کتابونو خاص د پښتون د تاریخ په حیثیت، د پښتون له نقطۀ نظره، په پښتنه زمکه لیکلې شوې او د اباسیند دواړه لوریه د پښتنو په حالاتو حاوي دې. بیا دې دپاره هم چې ډیرې خبرې چې په حقیقت کښې اهمې وې یا خو نورو مؤرخانو ته معلومې نۀ وې یا ئې په څۀ وجه غیري اهمې ګنلې او پریښې وې. بیا دا چې زمونږ کتاب له دغو نورو تولو آثارو ماسیوا له منتخب اللباب یقیناً پسته لیکلې شوې دې نو مقابلةً زیاته زمانه ئې راګیره کړې ده. اګر کۀ زمونږ کتاب بنیادي طور سره د پښتنو تاریخ دې خو هر کله چې له ډیره وخته راهسې د مؤلف تر زمانې پښتونخوا د مغلو د هندوستاني امپراطورۍ لاندې وه نو پکښې ضمناً د هندوستاني تاریخ داسې واقعات هم راغلي دي چې براه راست ئې پښتون یا پښتونخوا سره تعلق نۀ وۀ. نو مونږ چې د افضل خان د تاریخ مرصع مقابله او موازنه په هندوستان کښې لیکلي شویو د پښتنو تاریخونو، د هندوستان عمومي تاریخونو، عهدوار تاریخونو لکه چې مو یاد کړل سره کوو نو دې نتیجې ته رسو چې تقریباً هغه هر څۀ چې مونږ ئې د پښتنو په حقله په دغو نورو کتابونو کښې مومو، تاریخ مرصع ئې رانیسي. خو پرته له دغه هر څۀ هغه ډیر څۀ چې دې مو پرې خبروي هغه نور کتابونه ئې نۀ را وائي. اګر کۀ افضل خان د هیواد د معیشت، معاشرې، ثقافت او تمدن په حقله شعوري، منظم او منهاجي لیک کونکې نۀ بریښي خو بیا هم څخو ئې پخپله داسې خبرې کښلي دي او څۀ ئې له نورو ذریعو مثلاً له

بره، اخون درویزه او خوشحال بابا داسې مواد راغونډ کړي دي چې مونږ ترې د پښتونخوا جغرافیې، د معیشت د وسائلو، د ځنو ځناورو، مارغانو، اجناسو، میوو، د مالګو د درنګونو د پښتنو د معاشرې د بعضو اړخونو، د دوې د اخلاقو، عاداتو، رسم و رواج، د مذهبي عتقاداتو او هم ورسره د توهماتو، په دوي کښې د میاں ملا، د شیخ پیر د مقام او ورسره ئې د سلوک په باب کۀ ډیر نه نو څۀ نه څۀ معلومات، کۀ په حقله ئې وروایو چې لږ نه نو هم به ځاے ي ضرور حاصلولے شو. سره د دیو خبرو علاوه له هغو بزرګانو چې په تذکرة الاولیاء کښې ي حالات راغلي دي د ځنو نورو بنو بدو شیخانو پیرانو نامې هم رابښیل او په حقله ئې او په اب ئې څۀ لږه ډیره وینا هم کیږي. بیا مونږ علاوه له خوشحال بابا د ځینو نورو پښتنو د نـي او دماغي کاوشونو او علمي او ادبي آثارو نه، کۀ هر څو تر ډیره لږه حده، هم خبریږو کې په دې لړ کښې زۀ بې د تردید له ویرې وئیلے شم چې د خوشحال بابا "سوات نامه" چې ونږ د کتاب د مقدار له رویه یوه وړه غوندې برخه ده ځان له هم په یو وخت یوه عظیمه فن ره او د معلوماتو لویه ذخیره ده.

في الجمله صرف په پښتو کښې نه بلکې په بله کومه ژبه کښې هم د پښتنو او پښتونخوا د تاریخ په حقله د مواد د کثرت، جامعیت او تنوع له رویه تراوسه په معلومو تابونو کښې د تاریخ مرصع د پایې به بل کتاب نۀ وي. او باید چې په دغه موضوع د حوالې ه کتابونو کښې په ډیرو اهمو کښې اهم ترین وګڼل شي. او په مجموعي حیثیت ئې مستند او عتبر وشمیرو. پکښې د بیانو شویو واقعاتو یوه برخه خو هغه ده چې د مؤلف خپلې زمانې او وند سره تعلق لري. او له کردارونو ځنې ئې یا خو هغه پخپله یو دے او یا ئې له نزدې نه لیدلي لي دي. هغه واقعات چې د خوشحال بابا ژوند سره تعلق لري او د پښتنو د تاریخ له ډیرو یاتو اهمو ابوابو د یو باب حیثیت لري په هغو کښې د ډیرو په باره کښې بیان د خوشحال بابا ه خپل بیاض مبني دے. او بیا په هغو کښې د ځنو زمانه د مؤلف د ژوند زمانې سره شریکه ه. د مؤلف د ژوند او یاداشت نه د اګاهو ادوارو د واقعاتو د بیان په حقله چې ئې له کومو اریخي دستاویزاتو اخذ کړے دے ورته ئې حواله کړې ده او د هغۀ د ژوند د آغاز او د پوهې د خت نه اګاهو خو ورته د نزدې زمانې د واقعاتو په عیني شاهدانو کښې د هغۀ د نیکۀ وشحال خان خټک او پلار اشرف خان هجري نه علاوه د هغۀ نور خپل خپلوان هم د پلار هم د مور، د دواړو له اړخو وو. اګر کۀ په ډیرو واقعاتو کښې افضل خان پخپله یو کردار فریق او ذاتي دلچسپي لرونکے دے او په داسې حالاتو کښې د داخلي عواملو او ذاتي فادو د اثراتو نه د بیانیې محفوظ پاتې کیدل ګران وي او دغه څۀ د خوشحال بابا د بیاض د

ډېرو برخو په حقله هم وئيل کيدے شي. تر څو چې د خوشحال بابا په بياض کښې د د
قسمه واقعاتو تعلق دے نو هغه هم له انساني کمزوريو خلاص نۀ وۀ او د هغۀ دغه کمزور
مونږ د هغۀ په آثارو کښې وينو. هغه چې کوم وخت اورنګ زيب د پلار د بندولو او ورون
وژلو په وجه غندي نو دغه وخت ترې هير وي چې جهانګير هم د خپل پلار او د هغۀ برخلا
نې زوي شاهجهان هم بغاوت کړے وۀ. اګر کۀ دوي ته ناکامي ورپيښه شوې وه. او دا
ورته ياد نۀ دي چې شاهجهان هم د ورونو عزيزانو د وينو له ډنډه تير شوے، پرې ئې پښ
لړلې، تر بادشاهي تخته رسيدلے او جلوس ئې پرې فرمائيلے وۀ او دا څۀ رنګه ياد کړي چې
"قدردان" شاهجهان د زامنو تر منځه د تخت نشيني د جنګ په دوران کښې د هغ
وليعهد، مشر او نيازبين زوي داراشکوه چې د شاهجهان حمايت ورته حاصل وۀ خلاف ئې
اورنګ زيب مرسته کړې وه. ځکه چې له داراشکوه آزرده وۀ. او د اورنګ زيب ناقدردا
او ظلم و ستم ورته لا نۀ وۀ ښکاره شوي خو د اورنګ زيب دغه غندنې په تاريخ کښې
بياضه د شويو اقتباساتو موضوع نۀ دي. نو تر څو چې په بياض کښې د بيان شويو واقعاتو تع
دے سره په بعضو کښې د هغۀ د فريق کيدلو د هغۀ د اکثرو بيانونو تصديق او توثيق له نو
حاصلو ذريعو هم کيږي. او کۀ يو نيم ځاے د هغۀ او د بل کوم مؤرخ بيانونه سره بيلتون لر
نو قرائن او واقعاتي شهادت د خوشحال بابا مرسته کوي. مثلاً د علي مسجد د جنګ په با
کښې د خافي خان د بيان حاصل دا دے چې پس له سخته جنګه د مغلو فتحه وشوه. خوشح
بابا وائي چې "واړه لښکر رامات فتح د پښتانۀ وشوه." او بيا وائي چې "مجبوراً د بازار په لا
کابل لره روان شول." خافي خان هم سره د مغلو د فتح د دعوې کولو دا مني چې يو تربل
رشک او بې اتفاقي له قبله مغل ونۀ توانيدل چې له خيبره تير کابل ته لاړ شي نو ورته د باز
او څخوبي په لاره روان شول. مونږ ګورو چې دغه وخت له دريو کالو زياتې مودې راهس
پښتنو د خيبر دره بنده کړې او له دې عمله ئې د حکومت دپاره ډير مواصلاتي او عسکر
مشکلات پيدا کړي وو. اورنګ زيب چې پخپله په حسن ابدال کښې چاوڼي اچولې
پښتنو برخلاف ئې د فوځي اقداماتو نګراني کوله په هر شان ئې د خيبر د درې د عسکري ن
و حرکت او عام آمد ورفت خلاصلول ضروري ګڼل او غوښتل ئې. نو د مغلو پس له سخ
جنګه کابل وته د تلو دپاره د خيبر د لارې په ځاے د بازار او څخوبي لار اختيارول د هغوي
شکست او ناکامي دليل دے. اورنګ زيب نۀ صرف د خوشحال د قيدولو په باره کښې
خپل نالائق او بدديانته صوبه دار د حکم توثيق کړے وۀ بلکې خوشحال لره ئې داسې سخ
اشتعال ورکړے وۀ چې هغۀ لس بندي خانې خو هيرولے شوے خو نۀ دا يو اشتعال او هغه

چې حکم ئې کړے وۀ چې د خوشحال د کور عالم نارینه، زنانه د هغۀ زامن لونړه او بیبیانې دې پـه لـور د یرغمل هندوستان ته ورولیږلے شي. نو له اورنګ زیبه د نفرت د شدیدو جذباتو په هغۀ انتقاد په وخت د هغۀ په حق کښې په واقعاتو او د خوشحال بابا په سترګو پرده اچول یو طبـعي امر وۀ. د اورنګ زیـب پـه اعـمالو کښې بنۀ نیت او خلوص خو یو طرف ته د جواز د صـرت مـوجودګي لیدل هم د خوشحال بابا دپاره ممکن نۀ وو په هر حال د خوشحال بابا د بیباکه او بې پروا طبیعت نه چې خپلې تولې کمزوری او غلطی او د اورنګزیب خوبی او پرې مهـربـانـی نـې هـم پـه اراده یـا بې ارادې مونږ ته خرګندې کړے دي لړي لیدل شي چې هغه د واقعـاتو اکر بکر وران یا بدل کړي وي. کۀ هر څو د افضل خان په حقله مونږ دا نۀ شو ونیلے خـ بیا هم هغۀ چې څۀ د هغو واقعاتو په حقله هم چې خپله پکښې فریق دے هر څۀ کښلي دي کـ پـه آئیـنـه کښې ورته خان هر شان لیدۀ شو د نورو لیکونکیو چې تر څو د هغۀ د شخصیت خصوصاً د قومي کردار تعلق دے تر پامه کۀ بد نه نو هیڅ کله هم بنۀ راتلونکے نۀ دے

پـه هـر حـال چـې تـر کـومـه د دغه زمانې او متعلقو واقعاتو په حقله زمونږ تر لاسه نور شهادت نـۀ دے راغـلـے نـو چـې څـۀ لـرو باید چې سره د ضروري احتیاطه نې غنیمت وګنو بـا جـود د تـاریـخ مـرصـع پـه مجموعي حیثیت د مستند او معتبر کیدلو پکښې ضرور داسې خرې، په هغو برخو کښې هم چې د خواجه نعمت الله د کتاب په ترجمه مشتملې دي او هم د افضل خان په کتاب کښې چې اصلاً پښتو دے شته، چې صحت نې محل نظر دے او ځنې خو د مـخـزن افغاني په هغه ابتدائي برخه کښې چې د قصص الانبیاء له نوعیته ده، په اسرائیلیاتو او نـورو مـوضـوعـاتو مبني دي. علاوه له دې ځنې داسې خبرې چې بنکاره کول نې ضروري وو زمونږ مؤرخ پرې یا له سهوه او غفلته او یا له اغماضه چپ پاتې شوے دے د اول قسم خبرو خو پـه نـوټـونـو کښـې ځاے په ځاے نشاندهي شوې ده. باید چې دلته د دویم قسم خبرو یا د خل مؤرخ د یو څو فروګزاشتونو نشاندهي وکړل شي:

( ) لـکـه چـې بـه بنـاغـلـي لـوسـتـونـکـي له متنه د نوټونو په رنا کښې وخیري زمونږ په ملي تحریکاتو کښې شیخ کمال الدین خان داؤدزي ډیر اهم کردار ادا کړے دے او له دې قبله مو پـه تـاریـخ کښـې د ډیـر جـوت او اوچـت مـقـام ځښتـن دے د شیخ خان د خروج پـه وخت خوشـحـال بابا د اتلسو کالو ځلمے وۀ او د هغۀ نه علاوه به افضل خان یقیناً نور هم داسې ډیر ـسـان لیـدلي کتلي وو چې دغه وخت پاځۀ، د ځلمیتوب او پوهې عمر ته رسیدلي وو افضل ـان چې کوم معلومات له هغو کسانو د دغه ستر ملي مجاهد په حقله حاصلولے شو یا نې ترې ـ حاصلولو او یا نې مونږ ته په رسولو کښې ترې غفلت شوے دے او چې څومره او څنګه نې

رسولي دي تري د واقعاتو د صحيح نوعيت او کردارونو د اهميت په صحيح اندازه لګولو کښې زمونږ مناسبه رهنمائي نۀ کوي. لکه چې ما په نوټونو کښې له معاصرانه شهادتنه له خپله انده په دليل او تفصيل د ثابتولو مرسته کړې ده د هغه تحريک چې په نتيجه کښې ئې د شاهجهان په عهد کښې په ۱۰۴۰ هجري (۱۶۳۰ء) کښې پېښور بنار هم محاصره شوے وۀ او د حکومت ملګري ځوک اټک ته تښتيدلي او د هغه ځاے کوټ کښې او ځوک پېښور ته رارسيدلي په کوټ کښې ئې پټ شوي وو، روح روان هم شيخ خان وۀ او د عبدالقادر غلط او ناکاره کردار ويره او وهم يا غداري ئې تر ډيره حده د پښتنو د ناکامي او شکست سبب وۀ. خو لکه چې پکار وو زمونږ مؤرخ د شيخ خان اوچت او اهم رول نۀ دے جوت کړے بلکې دانسته يا نادانسته غالباً نادانسته عبدالقادر ته ئې اهميت ورکړے او د هغۀ مذموم کردار لره ئې د جواز پيدا کولو يا "عذر لنګ" تراشلو کوشش کړے دے بايد چې لکه مونږ ته نو زمونږ مؤرخ ته هم د عبدالقادر رويه خصوصاً دې دپاره هم بده ښکاره شوې وے چې هغه د احداد غوندې جري او جرار پلار، د الائي غوندې قابلي او ننګيالي مور او د جلال الدين غوندې مرد ميدان د لور زوے وۀ. د هغه جلال الدين نمسے چې هيڅکله په ماتو نۀ وۀ مات له مېنوده نۀ وۀ ستړے او هر کله ئې ګرانو سختو وته هرکلے وۀ، چې په بې سروساماني کښې ئې د ستر ساز و سامان او لويو لښکرو ښښتن د هندوستان شهنشاه اکبر ته چې بل چا نۀ هغۀ ته سردردي ورکړي وه. خو بخښنه غواړم دا مې هير وو چې د هغه مرد ميدان زوے، د عبدالقادر ماما الله داد له ډيرې مودې راهسې کۀ د خپل نيکۀ بايزيد اورمړ له عقائدو تائب شوے وۀ کۀ نه خو اصل رشد ئې حکومت سره په ارادت او د مغل شهنشاه د عاطفت د سيوري لاندې ګزران کولو د بحث لاندې تحريک د واقعاتو په بيانولو کښې چې زمونږ له مؤرخه کومه کوتاهي شوې ده د هغې په وجه نن مونږ د شيخ خان له انجامه هم لکه چې بايد خبر نۀ يو او په باب ئې بې له قياسونو کولو بله چاره او لاره نۀ لرو کۀ زمونږ مؤرخ په دې باب احتياط او د پښتنو او مغلو دې لوے تصادم سره متعلقو اهمو خبرو ته پام کړے وے نو غالباً چې په حقله به ئې مونږ زيات شتۀ من وے.

(۲) دا د اورنګ زيب د عهد په لسم کال (۱۰۷۷/۷۸هجري) کښې چې مندړو او يوسفزيو کوم خروج کړے وۀ اګر کۀ په حقله ئې مونږ په تاريخ مرصع کښې بنۀ او دلچسپ بيان او ښنې داسې خبرې چې بل ځاے نشي بيا موندلے لرو. مثلاً د جعلي شجاع سوات وته ختل او هورې مريدل او د مغلو يوسفزيو ته د يوۀ لوے رقم پيشکش کول چې په بدل کښې ئې د شجاع هډونه ورکړي او د ننګيالي اولس د خپل او د پښتو د نوم بدولو نه انکار کول. دا چې

جعلي شجاع لکه چې د سوات نامې له يوۀ شعره چې مؤلف د دې خروج د بيان په لړ کښې هم راوړے دے بـريښي پښتون نه بلکه څوک مغل وۀ. خو د څنو وضاحت غوښتونکيو خبرو ذکر افـضـل خـان نۀ دے کړے. د "عالمګير نامې" د بيان له رويه، د باګو خان نه علاوه يو بل سړے مـلا چالاک (چې د بهيرې خوشاب د لوري ياد شوے دے) د دې خروج باعث وۀ او د دوي يـو څوشے سړےٗ د محمد شاه په لقب د يوسف، مندړ بادشاه کړے وۀ. آيا دا ملا چالاک او د تـذکرة الاولـياء اخـون څالاک هم يو کس خـو نۀ دي؟ په تـذکرة الاولياء کښې ملا څالاک تـوغه او ترين ياد شوے دے ليکن صرف ممکن نه قياس ته نژدے او اغلب هم ليدلے شي چې د چا کـاتب له سهوه د ترې نه (چې خټک دے) ترين جوړ شوے وي. او په بهيره او خوشاب بـه خـټکو ډيـر تـاختونه کول او پکښې ميشته شوي هم وو بلکه نن هم د سرګودها په ضلع کښې چې بهيـره او خـوشـاب ئې برخې دي پښتانۀ شته. آيا د "عالمګير نامې" محمد شاه او جـعلـي شجاع يو کس خو نۀ دي؟ يا د محمد شاه او ملا چالاک په حقله د مرزا محمد کاظم بيـار چې د شجاع پحقله عمداً چپ پاتې شوے دے د هغۀ خپل ايجاد خو نۀ دے علاوه له ديو خبـرو افـضـل خان څنې نور تفصيلات هم نۀ دي ور کړي مثلاً مغلو په جنګونو کښې پښتنو لره پـه نـکـسـت ور کـولـو اکـتـفـا نـۀ کـول بلکه پرې ناتار او تالان جوړول، فصلونه او ملک ئې بـربادول، خـرابـول او مـال مـويشـي ئـې شـړل او بـوتلل. د ماتو شويو پښتنو، د جنګياليو نۀ جنګياليو ګردو تنګول، تزنول، پريشانول او په کښې دهشت او انتشار پيدا کولو اقدامات او کـارروايـانې کول د لنګر کوټ بنا چې افضل خان ئې ډير بنۀ او نادر تفصيل ور کړے دے هم د دغه ظالمانه او جابرانه پاليسى د سلسلې يوه کړى ده. او هم څکه خو خوشحال بابا وائي:

لنګر کوټ مغـلو ساز کړ　　زۀ په ننګ بيا د افغان شوم
کۀ يوسف وۀ کۀ مندړ وۀ　　زۀ د دواړو نګـــهبـان شوم

اورنـګزيب سره د خپلې تقدس مآبى سرترپايه شهنشاه وۀ او د تخت او تاج وقار او د ښـښـن ذات تـه ئې د خطرې په باره کښې ډير زيات حساس وۀ. او د داسې دښمن چې ترې د داسې خـطـرې امکان کيدلے شو صرف د وهلو او زغلولو نه بلکې د پريستلو او ختمولو قائل وۀ. د شـجـاع مـوهومه موجودګي هم خواه کۀ په پښتونخوا کښې يا بل ځاے د اورنګزيب تر پـامه نـۀ بـې خـايـه په دهلي او آګره کښې د غلطو انديښنو باعثيدلے شوه نو له قبله ئې يوسف مـنـړ نه صرف د جنګ له ميدانه د زغلولو پۀ معنو کښې بلکې سم ئې مات کړل. کۀ زمونږ مؤرخ د واقـعاتو تفصيل او د متعلقه اقداماتو توضيح ته مناسبه توجه کړې وے نو کۀ هر څو له خـټـکو عموماً او له خوشحاله خصوصاً يوسف مندړ ازرده وو او کۀ د مندړو يوې څانګې سره

ئې خانداني او ذاتي عداوت هم وۀ او بيا کۀ د خينو لړو يا ډيرو يوسفزيو او مندړو د پښتنو د يو لوے تحريک په دوران کښې چې د هغوي له ياد شوي خروجه څو کاله پس شروع شوے وۀ تيرې بدی د نظر د وړاندې وړے هم نو زمونږه د تاريخ څينو طالبانو او عالمانو به لکه چې احساس ئې راته شوے دے دغه خبرې خان له د يوسفزيو او مندړو له تحريکه د بيل پاتې کيدلو وجه نۀ وړے ګڼلے د يوسف منډړ ننګيالي او غيرتي اولس خو په زمکه پرمخ پروت په ماته ملا هم چرې له پښتنو لاس نۀ وۀ راکښلے او څومره چې ئې وس وۀ. کۀ اورنګزيب پکښې څۀ پرېښے وۀ لاس پښې ئې له خوشحال بابا وهلے وړے کۀ هالۀ کوم وخت چې اورنګزيب د خوشحال د زن بچه په طور د يرغمل هندوستان وته د ليږلو حکم کولو يوسفزيو ته د خوشحال بدی نۀ ودريدلے او د هغۀ اهل و عيال لره ئې سره د سلو نورو کورونو په خپل ملک کښې پناه ورکوله نو کۀ د يو لوے تحريک په دوران کښې هم په يوسف منډړ کښې څو کسان، يوه ګڼه ذ زړو ماتو ګوډو هيرونکې نۀ وه نو ګرد اولس به ئې ولې ارو مرو يا دونکے وۀ. جوته ده چې دومره زياتو عالمو لره چې ياد شول پناه ورکول خايول او ساتل ئې يوازې د ملک حمزه خان کار نۀ شو کيدلے ورلره د اولس تعاون او ملګرتيا پکار وه خکه خو خوشحال بابا د ټول رانيزي او بائيزي بنۀ يادوي بلکې نۀ يوازې د هغو بلکې د ګرد يوسفزي خان منت بار ګڼي او بولي ئ. کۀ د تحريک په دوران کښې د يوسف منډړ رويه خوشحال بابا غندلې ده نو د ختکو ئې کله ستائيلې ده. صرف هغه وخت چې يوسفزيو ته سوخت شوے دے او بيا د يوسفزيو غندنه له هغوي د توقعاتو له قبله وه او کۀ د خوشحال بابا له يوسفزيو توقعات بې خايه وو نو له دې قبله نه چې هغوي په زړۀ کښې زړې بدی ښوررولې بلکې د هغه خبيثې له عمله چې دم ئې ترې ايستلے وۀ. دلته به دا ذکر کول هم مناسب وي چې هر څو کۀ خوشحال باباْ په تحريک کښې په طور د يو پښتون مشر اهم او ډير اړخيز کردار ادا کړے دے، ابتدا ئې د هغۀ له لاسه نۀ وه شوې بلکې له صافيو، مومندو، شنواريو او آفريديو (چې وروستو ورسره نور اولسونه هم د کومک دپاره پاسيدل) او د مومندو د کثرت او د هغوي د يوۀ غرې د رول او د صلاحيتونو د لويو نتائجو په وجه ئې تحريک زمونږ د عظيم شاعر په آثارو کښې هغۀ ته منسوب او د "ايمل د فتور" په نامه ياد شوے دے.

(۳) د اورنګزيب په عهد کښې چې د ايمل د فتور، د پښتنو د لوے خروج يا تحريک په دوران کښې چې ايمل خان مومند، خوشحال خان ختک او دريا خان آفريدي ئې قيادت کولو په کومو ډيرو لويو جنګونو کښې چې پښتنو مغل مات کړي وو له هغو ماسيوا د لنډې خانې او تهترې د جنګونو (چې په اصل کښې هم د يوۀ جنګ دوه مرحلې وړے) چې موږ ئې

حال هم د افضل خان او هم د خوشحال خان په الفاظو کښې د هغهٔ له بیاضه په اقتباس کښې لولو، د نورو جنګونو حال مونږ ته صرف د خوشحال بابا له بیاضه معلومیږي. د لنډي خانې، تهتره د جنګ حال چې د خافي خان د وینا له رویه د پښتنو قیادت پکښې ایمل خان او نورو پښتنو مشرانو (ایمل خان و دیګر سران افغان) کړے وهٔ او د نوښهر د جنګ حال چې پکښې خوشحال بابا د پښتون لښکر کماندار وهٔ د نورو لویو او اهمو جنګونو د حال په مقابله کښې مفصل دے. اګر کهٔ د نوښهر جنګ هم د ډیرو نورو جنګونو په مقابله کښې لوے بللے شو او دې نپاره هم چې عین د شاهراه د پاسه د پیښور او اټک ترمنځه د تانې فوځي ضلعې په هیډکوارټرز حمله شوې وه او سخت نقصان ورته رسولے شوے وهٔ خو کومې تباهی چې په مغلو لنډي خانه، تهتره، کرپه او خاپښ کښې راغلې وے او کومه خونریزي چې دواړه لوریه د علی مسجد په جنګ کښې چې ایمل خان مومند او دریا خان افریدے د پښتنو کمنداران وو شوے وهٔ په مقابله کښې نې د نوښهر په جنګ کښې لږ څهٔ شوي وو خو افسوس دے چې مونږ په تاریخ مرصع کښې د دغو جنګونو په باره کښې ضروري تفصیلات نهٔ بیامومو تر څو چې د بیاض تعلق دے هغه د ځانې او خپلو دوستانو د حالاتو د یادداشت په انداز کښې لیکلے شوے او د داخلیت رنګ پکښې ډیر ځایه خلاند دے سره د دې چې تقریباً ټول ضروري واقعات پکښې ښودلے شوي دي. هغه ډیرې خبرې هغه تفصیلات چې د تاریخ متجسس طالب علم نې له مؤرخه توقع لري نشي پکښې بیاموندلے کیدے افضل خان لکه چې د هغهٔ له دیبےچې معلومیږي د پښتنو د تاریخ جوتولو ذمه واري په ځان اخستلے د کتاب لیکل شروع کړي وو، نو مونږ ترې له تاریخي نقطهٔ نظره زیات توقعات لرل. نو باید چې د دغو لویو جنګونو په باره کښې هغهٔ صرف د بیاض په مواد اکتفا نهٔ وے کړے مونږ د دغو جنګونو د ماحول د جاج اخستلو، د فریقینو د وسائل، ذرائع، جنګي ساز و سامان او د تعداد د مقابلې او د هر یوهٔ جنګ د انجام د معلوم دستاویزي شهادت او قرائنو په بنا د مطالعې نه پس په دې نتیجې رسو چې ایمل خان مومند یو ډیر لوے عسکري نابغه او لکه چې سر جادو ناتهـ سرکار وائي پیدائشي جرنیل وهٔ. (هسټري آؤ اورنګزیب جلد ۳ ص ص ۲۶۵،۳۶۲، ۳) یوسفزیو او منږو د اکبر له عهده د اورنګزیب تر عهده کم و زیات سل کاله پرله پسې مغلو سره جنګونه کړل، خو بې له ملندری له جنګه چې پکښې نې مغلو ته سخت نقصان رسولے او ډیره بده ورخ نې ورپیښه کړې وه همیشه کهٔ نه نو اکثر نې له مغلو شکست خوړلے او نقصان نې ترې بیموندلے وهٔ. د ملندری په جنګ کښې هم د مغلو د شکست وجه د پښتنو توره، میړانه او جنګي تدبر دومره نه خومره چې د بیربل د خپلې عهدې او ذمه واری په باب احمقانه

سنجيدګي وه. په پښتنو کښې د يوسف منديڼ اعدادي قوت څرګند، توره ئې ښکاره او ميړانه ئې جوته خو په ياده شوې وړده موده کښې ئې داسې فطين، قابل او تجربه کار قائدان نهٔ وو بيامونـدلي لکه چې د بحث لاندې تحريک کښې شاملو پښتنو اولسونو يوه بله وجه دا هم وه چې د دغه تحريک د اسبابو له ظهوره تقريباً ديرش کاله وړومبے د شيخ کمال الدين خان داؤدزي د خروج تر وخته د پښتنو په مقاصدو او د اقدارو په تصور کښې قوميت نهٔ وو بريښولے او په واضح، شعوري او مؤثر طور جذباتو سره ئې ورګډ کړلے او د مغلو خلاف ئې په جدوجهد کښې پکارولے شوے کهٔ چرې يا په کومه حلقه کښې د پښتو او پښتونولي او په پښتون د مغل د تيري او زور زياتي خبرې کيدلے هم نو ورسره به دا خبرې هم ورګډولې کيدلے چې ارو مرو د پښتنو تر منځه د اختلاف او نزاع پيدا کونکې وے. د شيخ خان تر وخته د مغلو خلاف د پښتنو مرسته او مبنود پيرى مريدى يا متنازع فيه روحانيت سره ګډ سياست وهٔ او يا دغه جدوجهد او متعلق سياست ئې د قبيلوي نوعيت وهٔ. په پيښور د حملې نه وړومبے چې شيخ خان کوم کار، څومره موده او څهٔ رنګه ئې کړے وهٔ له دغه بابه مونږ له بده مرغه پوره تفصيلات نهٔ لرو سيوا له دې چې د شاهجهان د عهد سرکاري تاريخ بادشاهنامه او غير سرکاري تاريخ عمل صالح دواړه مو خبروي چې عبدالقادر هم د شيخ خان په کوشش او ترغيب په تحريک کښې شامل شوے وهٔ او عمل صالح دا هم وائي چې هغهٔ يعنې شيخ خان هميشه د پښتنو رياست غوښتلو (همواره رياست افغانان مي خواست) د پښتنو مملکت قائمول ئې يا د پښتنو مشر کيدل ئې غوښتل) او مونږ ګورو چې د دغه خروج نه اګاهو د شمال او جنوب د پښتنو دومره مختلف او ګڼ اولسونه وړومبے هيچرې د يوهٔ مقصد دپاره نهٔ وو يو ځاے شوي. بيا له غير سرکاري تاريخه عمل صالح رانقل شوے جمله هم معني خيزه او غور طلبه ده او په سرکاري تاريخ بادشاهنامه کښې ئې حذف کيدل هم بې مقصده نهٔ دي. د دغه جملې خيال انګيزي د هغو پښتنو امراؤ او منصبدارانو دپاره چې د حکومت وفادار وو متعدي او د حکومت له نقطهٔ نظره خطرناکه وه. د شيخ خان د خروج نه پس د اورنګزيب د عهد په لسم کال کښې د يوسف منديڼ خروج وهٔ خو لکه چې جوته ده هغه وسعت ئې نهٔ لرلو او بيا د "ايمل فتور" آغاز شو او لکه چې سر جادو ناتهـ سرکار ليکي "قومي نهضت" National Risingوهٔ. (هستري آؤ اورنګزيب جلد ۳ ص ۲۶۵) د دغه تحريک په دوران کښې د قومي شعور د بيدارولو دپاره د تجربې کومې حربې او د فن او فکر کوم نشترونه استعمال شوي وو هغه ترې اګاهو د پښتون د قومي حميت رګونو ته نهٔ وو رسيدلي. او کهٔ د چا ماهر، تجربه کار او فنکار جراح- خوشحال خان خټک ذاتيات پکښې هم شامل وو نو

هغهٔ د خپل ډیر اړخیز، مسلسل او مشکل کار دپاره د تحریک د کامیابی په صورت کښې ئې د انجامیدلو په وخت د هغهٔ سیاسي د روحاني خو سوال نهٔ پیښیدلو سیادت تسلیمول یا د دغه قسم څهٔ نور څهٔ بدل ورلره ورکړل کیدل شرط نهٔ وو ګرځولي. بلکې ایمل خان سره چې خط و کتابت کوي نو هغه بادشاه او خاے ئې درګاه بولي او خپل خدمات او تجاویز ورته په طور د یو فرمان بردار پیرو پیش کوي. (وګورئ دیوان د "ه" پټې او زما کتاب آن اے فارن ابروچ ټو خوشحال ص ص ۱۱۲، ۱۱۳)

په داسې حالاتو کښې له دغه حقیقته څوک انکار کولے شي چې د خوشحال خان د هغه شخصیت نه ئې چې د ملک اکوړ خان، یحیې خان او شهباز خان نه ئې په میراث کښې د ماحول د اثراتو لاندې موندلے وهٔ اصلي شخصیت مختلف وهٔ چې ظهور دپاره ئې خارجي وجه محرک بیاموندله نو د پښتون اجتماعي شخصیت سره یو شو د ایمل خان عسکري فطانت او د دغه ذهني قهرمان ډیر اړخیزو صلاحیتونو چې نهٔ صرف فوځي تجربه او قابلیت ئې پکښې هم شامل وو بلکې په کلونو ئې د مغلو نوکري کړې وه او د هغوي دپاره په نورو ګڼو لویو ړرو جنګونو کښې د حصې اخستو نه علاوه په دوؤ ډیرو لویو فوځي مهمونو کښې په هندوستان او ترکستان کښې ډیره موده ئې د ځینو ډیرو لویو جرنیلانو په ماتحتی کښې عملي حصه اخستلے او جنګونه جګړې کړے وے او له دې قبله د مغلو د عسکري نظم و نسق او د هغوي د فوځ د افسرانو او سپاهیانو د صلاحیتونو او تدبیرونو، قوت او کمزوریو غرض چې د ګردو ښو بدو نه ښهٔ واقف وهٔ دغه تحریک ته یو امتیازي شان ور وبخښلو ☆

☆ سر جادو ناتهه سرکار لیکي چې د تحریک لیډرانو په هندوستان او دکن کښې د مغلو فوځي نوکري کړې وه. هغه دغه بیان د خوشحال خان او ایمل خان دواړو متعلق کوي. هسټري اؤ اورنګزیب جلد ۳ ص ۲۲۲ هغه د ایمل خان قبیله هم لکه د اکثرو غیر ملکي مؤرخانو آفریدے یادوي او د بلهلف د خوشحال بابا د منتخب کلام په انګریزي ترجمه کښې ئې د نامې د هجې په تتبع کښې اکمل خان یا اکمل ئې بولي. (هسټري آؤ اورنګزیب جلد ۳ ص ۲۲۰) او وائي چې په اخبارات کښې ئې نامه ایمن لیکلے ده چې ښکاره د ناقل غلطي ده. (ایضاً حاشیه) دلته ئې اخبارات (د اورنګزیب د عهد اخبارات المعلیٰ) د کال اوورق حواله نهٔ ده ورکړے او بیا وائي چې (ایضاً ص ۲۲۲ حاشیه) خوشحال خان هم لکه د پلار ئې د مغلو منصبدار وهٔ. (اخبارات کال ۱۰ ورق ۹) په ۳۰ مارچ ۱۶۶۷ ء بادشاه وړومبے اکمل افریدے د محمد امین خان سره پیښور ته د تللو دپاره مامور کړو خو بیا ئې ایسار کړو. او احتیاطاً ئې دکن ته ولیږلو. (ایضاً ۱۰/۴ هم په حواله د اخبارات کال ۱۰ ورق ۴ اکمل افریدے د سرکار اصطلاح ده ولې چې پښېلهوائي چې اخبارات کښې نامه ایمن ده. نهٔ شو وئیلے چې احتیاطاً هم په اخبارات کښې دې کهٔ د سرکار قیاس دے. هرکله چې باغي ایمل او د اخبارات ایمن سرکار هم یو سړے ګڼي نو د احتیاط په حقله

د دغه تحریک نه اګاهو د مغلو عسکري اقداماتو دپاره محاذ یا محاذونه لنډ تنګ او اوس ډیر زیات وړدهٔ پلن او هم ګن او ورلره ډیر مشکلات پیدا کونکي وو په داسې حالاتو کښې علاوه له نورو خبرو د مغلو دپاره د مواصلاتي لیکو ټینګ ساتل ډیر ګران وو چې د فوځونو د نقل و حرکت په رفتار ئې د هغوي له نقطهٔ نظره ډیر خراب او مخالف اثر وهٔ. د خوشحال خان په نوښهر او خیر آباد پرله پسې حملو او په سمه کښې ځاے په ځاے د چپاوونو کولو په ذریعه د دغه مقصد حصول هم وهٔ. بخښنه غواړم خبره د لویو او سختو جنګونو په باب د تاریخ مرصع کښې د تفاصیلو نشتیا وه. کهٔ له افضل خان دغه کوتاهي نهٔ وے شوے نو مونږ ښخه ګوندې له هغهٔ شهادته چې د ایمل خان د عسکري فطانت په حقله ئې لرو بهتر او زیات جوت شهادت وے او نن د هغهٔ له جنګي تدبره او وخت په وخت او ځاے په ځاے به ئې له جنګي تدبیرونو خبردار وو علاوه له دغه کوتاهي اګر کهٔ افضل خان د دریا خان افریدي د

نې قیاس هم له قیاسه بعید نهٔ دے اخبارات وته د حوالې له دوارو ځایونو له مقابلې ظاهریږي چې د ایمل یا ایمن په حقله د سرکار وینا هم په یو ځاے ۱۰۴ مبني ده. سرکار د بحث لاندې تحریک په سلسله کښې د ایمن یا ایمن افریدي په اخبارات کښې چرته د ذکر حواله نهٔ ده ورکړے. کال لسم (۸۷-۱۰۷۷) عهد عالمګیري کښې د یوسف منډن بغاوت شوے وهٔ. د سرکار د وړاندې د خافي خان منتخب اللباب او د نواب شاهنواز خان مآثر الامراء کښې لکه چې وائي ایمل د بدلف په ترجمه کښې اکمل او په اخبارات کښې ایمن. په دریو اسنادو کښې د نوم په اخر "ل" او په یو کښې "ن" وهٔ. د "ن" لرونکے نوم بامعنې دے خو د دریو اسنادو خلاف. د "ل" لرونکو دوو صورتونو کښې اکمل با معنې دے او ایمل نوم مهمل یا کم از کم د سرکار دپاره نا اشنا وهٔ. (اګر کهٔ نا اشنا نهٔ وهٔ پکار د شاهجهان د عهد په دستاویزانو کښې هم دغه نوم بیامومو. د سرکاري تاریخ بادشاهنامه د جلد ۱ فهرست منصبداران ص ۳۱۳ کښې او د غیر سرکاري تاریخ د جلد ۳ سره لګیدلې د تولو دورونو د منصب دارانو فهرست کښې په ص ۴۸۰ ایمل افغان نامه رابنکاري او هم دغه سړے په مآثر الامراء جلد ۱ ص ۲۷۷، ۲۸۷ کښې ایمل ترین یادیږي خکه چې ترین هم افغان دے او بیا بادشاهنامه او مآثر الامراء دواړه کتابونه ئې خان جهان لودي سره قتلیدل بیانوي) هر څو کهٔ د بحث لاندې د لوے تحریک په سلسله کښې د ایمل یا ایمن ذکر اخبارات کښې نهٔ دے راغلے خو قیاساً ئې د اخبارات ایمن افریدے او د منتخب اللباب او مآثر الامراء ایمل (چې ذکر ئې د لوے تحریک په لړ کښې کوي) یو کس وګڼلو او وائي چې د نوم په نقل کښې ئې غلطي شوې ده. حال دا چې دغه سړے چې په اخبارات کښې ئې ذکر دے په عالمګیر نامه کښې هم د ایمن افریدي په نامه یاد شوے دے چې د اجمیر (دیورائي) جنګ کښې ئې د دارا شکوه خلاف د اورنګزیب ملګرے وینو (جمادي الثاني ۱۰۶۹ هجري مطابق مارچ ۱۶۵۹ ع ص ۳۱۴ او بیا اتهٔ کاله پس د یوسف منډن د خروج په لړ کښې ایمل فتور له آغازه درې څلور کاله اګاهو یادیږي. ایمل چې خوشحال بابا ورته د پښتنو لوے خروج منسوب کړے دے د هغهٔ د قطعې او هم د افضل خان د بیان له رویه مومند وهٔ.

دانجام په باره کښې څخو مفصله وينا کړې ده خو تر څو چې د ايمل خان مومند تعلق دے . د کال ١٠٩٥ هـجري (٨٤-١٦٨٣ء) د څینو واقعاتو د بیان په ضمن کښې مونږ صرف دومره خبروې چې ايـمـل خان دغه وخت وفات کړے وۀ. (ص ١۴٣-٥٠٢) افضل خان هغه وخت چې د پښتنـو تـاريـخ ئې ليکلو افسوس دے چې دا اندازه ونۀ لګولے شوه چې خوشحال خان خټک، ايمل خان مومند او دريا خان افريدے په مخ د پښتون په تاريخ کښې ډير اوچت مقام حاصـلـونـکي او راتلونکي نسلونه د دوي خصوصاً د ايمل خان مومند او دريا خان افريدي په حقـلـه (ځکه چې د خوشحال خان خټک پحقله ډير څۀ معلوم دي) د هغو ډيرو څيزونو چې خپـل مؤرخ ورتـه غـالباً ښنيلے شول خو ور وۀ ئې نۀ ښنيل، لټون به کوي او نۀ به ئې مومي. نن مونږ کۀ هر څو غواړو لا تراوسه مو دا معلوم نۀ کړے شول چې د يو او د بل د پلار نامه څۀ وه، قدوقـامت شکل و شباهت ئې څۀ رنګه وۀ، د وفات په وخت ئې عمر څومره وۀ. (ترڅو چې د حليـې تعلق دے نو د خوشحال بابا په حقله هم بې خبره يو) د ١٠٨٣ هجري (٧٢-١٦٧١ء) چې د پښتنو ګروم او نول رابرڅيره شول او په لويه پيمانه ئې د مسلحو اقداماتو شکل اختيار کړو، نه اګاهو ئې څۀ کړل او ژوند ئې څۀ رنګه تيرولو اګر کۀ د خوشحال بابا له بياضه مونږ د اندازه پـه اسـانـه لـګـولے شو چې دريا خان په آفريديو کښې آدم خيل وۀ. د تيراه په ميدان نـمـې عـلاقـه کښې ئې هم کور وۀ او د آدم خيلو يا د کوهاټ په دره کښې ئې له پيښوره ٢٦ ـ ٢٧ ميـلـه سهيـل رويه په سنډه بسته نوم ئې کلي کښې هم ځاے وۀ. خو د ايمل خان په حقله علاوه لـه دې چـې خـوشـحال بابا ورته په واضحو الفاظو کښې مومند وائي. (ديوان د پيښور چاپ د ادارۀ اشـاعـت سرحد قطعات ص ٩٢٢) او هم د بياض او د تاريخ مرصع له څنو نورو برخو هم په ښۀ شان قياسيدے شي چې مومند وۀ مونږ صرف روايات لرو چې په مومندو کښې خوئيـزے، پـه خـوئيـزو کښـې کوکوزے او په کوکوزيو کښېموسيزے وۀ. اګر کۀ په تاريخ مرصع کښې داسې بيان نشته چې په بنا ئې مونږ ووايو چې د افضل خان چرې ايمل خان سره ليدل کتل شوي وو خو دريا خان سره خو ئې ليدل کتل شوي وو .(تاريخ مرصع ٢١۴/۴٠٢) اولـه هـغـۀ اوله خوشحال بابا ئې د هغو دواړو پحقله ډير څۀ معلومولے شول چې نن ئې مونږ د معلومولو زښت ډير ارزومن يو. دلته به له ښاغليو لوستونکيو د يوې ذاتي افسوسناکې تجربې د يـانـولـو اجازت وغواړم. کومو شپو ورځو کښې چې ما د ګران مشر ښاغلي پير بخش خان صاحب ايـډوکيـټ پيښور په نغوته خپل انګريزي کتاب "آن اے فارن اپروچ ټو خوشحال" ليکلو نو د ايمل ګټ او څينو نورو ځايونو د عکسـونو اخستلو دپاره دوه ځلې د خپل ګران او خوږ دوسـت اربـاب سـکـندر خان خليل سره د مومندو کرپې ته تللے وم. په لاره به هر ځاے

ارباب صاحب په طور د تجاهل عارفانه یا د زیاتو معلوماتو د حاصلیدو امکان نظر د وړاندې څوک مومند عزیز وپوښتلو چې ایمل څوک وۀ نو نزدې نزدې هم دغه څواب به وۀ "وختینی خبرې دي څوک غازي به وۀ." چې څو ځله مو دغه خواب واؤریدو نو ما ارباب صاحب ته کړل چې "سکندره (لکه چې مونږ د وروروولی او بې تکلفی له مخه یو بل په نامه بلو) داسې مرهټې به وي چې شوا جي به نۀ پیژني. او وګوره د عزیزانو حال دې چې له هغه عظیمه شخصیته چې هم له دیو ځنې وۀ ځومره بې خبره دي. له هغۀ چې له لاسه ئې په مغلو بلکې د هندوستان د تاریخ په ملکي فرمان روایانو کښې د ټولو نه زیات طاقتور شهنشاه دارالحکومت پریښې دوه کاله په حسن ابدال چاونی اچولې بې ارامه او ناقلاره پروت وۀ." ✽

(۴) افضل خان په خپل کتاب تاریخ مرصع کښې د یوې داسې واقعې بیان هم کړے دے چې ډیره دردناکه اوافسوسناکه او هم ادب خیزه ده او په باب ئې حضرت عبدالرحمٰن مومند رحمة الله علیه، عبدالحمید مومند مرحوم او زمونږ د مؤرخ ترۀ عبدالقادر خان خټک وړدۀ نظمونه لیکلي دي. څۀ به ښۀ وو کۀ زمونږ مؤرخ د خپل دور د پښتنو ثقافتي اړخ ته څخو زیات او شعوري پام کړے وے او کۀ د ټولو نه نو کم از کم د څنو عظیمو شاعرانو لکه عبدالرحمٰن بابا، عبدالحمید له حالاتو او ادبي خدماتو او په ترونو کښې ئې مونږ د عبدالقادر خان، سکندر خان او صدر خان له حالاتو نور زیات او هم د پښتو شعر و ادب دپاره له کاره خبر کړي وو. ورارۀ ئې کامګار هم په ښو شاعرانو کښې د شمیرلو کیدلو وړ دے خو تر څو چې د هغۀ خوار تعلق دے نو په تاریخ مرصع کښې ئې په باب بې د پلار له مذمته نور هیڅ بیا نۀ شي موندلے کیدلے ځومره د افسوس مقام دے چې نن مونږ د عبدالرحمٰن بابا چې هر څو کۀ د پښتو عظیم ترین شاعر نه.نو له دریو عظیم ترینو شاعرانو دوه نور خوشحال بابا او عبدالحمید مومند یو او د پښتنو د خواصو او عوامو د ګډې ګنې د اکثریت مقبول ترین شاعر دے. له حالاتو بې خبره یو، لکه چې باید ترې خبر نۀ یو او په باب ئې د قیاس نیلي زغلوؤ چا ئې په افسانوي نظم کښې سوانح عمري لیکلے د پلار نامه ئې ورله خوش ارواحان ایښے او مجنون نوم ئې هلک ورله معشوق جوړ کړے چا ئې د پلار نامه عبدالستار ښنیلے او د مرینې کال ئې ۱۱۱۸ هجري یاد کړے دے حال دا چې په ۱۱۱۹ هجري او ۱۱۲۳ هجري کښې د شویو واقعاتو په حقله ئې نظمونه لیکلي دي. چا ترې باتریا جوړ کړے د بارې په غاړه کښینولے پۀ زمکه په لیکو راکښلو اخته کړے دے چې زمونږ له نیک مرغی د چا په مهرباني ئې وروستو د عبدالرحمٰن د دیوان شکل اختیار کړو کۀ د عبدالرحمٰن بابا په خپل ژوند کښې د شهرت او د کلام د مقبولیت ئې دا حال وۀ چې زمونږ د مؤرخ پلار د ستائنې دا باج

ورکوي چې :

خوږ زبان په زماني شکــري نولي | هغه واف چې مستــقر ئې پېښور دے
درحمٰن په ونيل خاېے د لقب نشته | چې ئې ما شعر منظور کړو معتبر دے

نـو مونږ ځومره بدمرغه يو چې د اشرف خان هجري زوے په خپل تاليف کښې د دومره عظيم شاعر او د دهٔ په شان د يو بل فنکار په حقله سکوت غلے دے دا هم غنيمت دے چې د هجري لـه حـالاتـو خـو ډيـر څهٔ خبر شو. دې دپاره نه چې هغه هم يو بنهٔ او لوے شاعر وهٔ بلکې له دې قبـل چې علاوه د مؤلف د پلار کيدلو د خپل سياسي پوزيشن له قبله ئې د وخت واقعاتو کښې شـخصيـت او کـردار جوت دے. د افضل خان له طرفه به دا عذر منظور او قبول نهٔ وي چې د هغه وخت تاريخ نويسي کښې دغه شان خبرو ته پام نهٔ کيدلو د مغلوالې کوم تاريخونه چې ما پـه هغـو معـروضـاتو کښې ياد کړي دي هغو کښې ورته پام شوے دے افضل خان څو خله د حوالې دپاره شاهجهان نامه ياده کړې ده چې مراد ترې غالباً عمل صالح دے خو کهٔ مراد ترې بـادشـاهنامه هم وي نو په دواړو کښې نهٔ صرف د شاهجهان د عهد د شاعرانو مختصر حالات سـردد کـلام د نـمـونو بلکې د هغه د عهد د علماؤ، طبيبانو او انشا پردازانو وغيره حالات هم شته.

(۵) ه ډيرې مودې راهسې دا روايت مشهور دے چې د حضرت شيخ رحمکار رحمة الله عليه د فـرزند شيخ ضياء الدين صاحب (چې د مؤلف د پيو خاوند دے) وفات له طبعي اسبابو نهٔ وهٔ واقـع‌شـوے بـلـکې مـوصـوف د مؤلف د پلار په وينا سرپو شهيد کړے وهٔ وائي چې زهر ئې ورکـړي وو او هم له دغه قبله ستائيلے شيخ صاحب په عوامو کښې د شهيد بابا په نامه مشهور دے. و کـهٔ د "تـاريـخ خورشيد جهان" د مؤلف شير محمد خان ګنډه پور او د دوي په شان د نوروتـاريـخ نويسانو غير مستند بيانونه ومنل شي نو اورنګزيب هم د ياد شوي جرم په پاداش کښـې د اشـرف خان د ګرفتارۍ او قيد حکم کړے وهٔ. هرکله چې د اشرف خان ګرفتاري په کـال ۱۰۹۲ هـجـري کښـې شـوې وه او پـه وسـطي هند (ګواليار) او جنوبي هند (بيجاپور) کښـې لـه بـنـده هيـچـرې نهٔ وهٔ راستون بلکې هم په بند کښې حق رسيدلے وهٔ نو د شيخ ضياء الـديـن صاحب د وفات سانحه به هم د ياد شوي کال نه اګاهو يا په دغه کال کښې شوي وي.
او د تـاريـخ مـرصـع لـکـه چې بره عرض کړي شوي دي تر ۱۱۳۲ هجري واقعات بيانوي نو ظـاهـره ده لـه دغه کاله هيڅ کله وړومبے نهٔ وهٔ مکمل شوے. نو افضل خان لره بانده وو چې د شيخ ضيـاء الـدين صاحب د وفات او په کومو حالاتو کښې چې واقع شوے وهٔ د هغو ذکر ئې لـم کـړے وے. خـو مونـږ ئـې پـه باب په تاريخ مرصع کښې هيڅ نهٔ بيامومو پرته له دې چې

افضل خان د خوشحال بابا له بیاضه کوم اقتباسات کړي دي هغه مونږ ته تر ۱۰۸۶ هجري پورې واقعات ښيي. د شيخ ضياء الدين صاحب د وفات سانحه اغلب چې له دغه کاله وروستو شوې وه. د خوشحال بابا هم د ستائيلي شيخ صاحب سره اختلافات وو او هر کله چې خوشحال بابا يو جريده اوصاف ګويه سړے وۀ قطع نظر له دې خبرې چې د هغۀ شکايات او ګيلې مانې له شيخ صاحبه په ځاے کۀ بې ځايه دي په موصوف ئې د مخالفانه انتقاد کولو نه علاوه چې پرې ئې کوم عملي جارحانه اقدامات کړي دي په خپل بياض کښې ئې صفا بيان کړي دي. نو کۀ په اشرف خان د شيخ صاحب موصوف د شهيدولو ذمه واري خواه لږه يا ډيره وه غالباً چې خوشحال بابا کۀ هغۀ بياض د متعلقې واقعې تر وخته ليکلے وۀ ښکاره کړے به ئې وه. مونږ په عالمګير نامه او مآثر عالمګيري کښې د اورنګزيب عالمګير خپلو مشرانو ورونو داراشکوه او شجاع سره د مخالفت، جنګونو او د وړومبي د وژلو او د دويم د ورکولو حالات خو ښۀ په تفصيل بيامومو خکه چې په ضمن کښې ئې د اورنګزيب په حق کښې ډير ښۀ ونيل کيدلے شي. خو له دغو دواړو تاريخونو په يوۀ کښې هم نۀ خو د مراد بخش په فن او فريب د ګرفتارولو. په هغۀ د خندنی مقدمې چلولو او په نتيجه کښې ئې د قتلولو او نۀ د شاهجهان د اسيری يا نظر بندی په باب څۀ ليدۀ شي. اګر کۀ زما تر پامه قطع نظر د دواړو له رشتې او د شاهجهان رويه د اورنګزيب خلاف د دارا په حق کښې نظر د وړاندې د پلار مقدمه ئې د اورنګزيب خلاف کمزورې ده خو د کشر ورور مراد بخش ډيره قوي او مضبوطه. په هر حال سرکاري مؤرخانو دواړو سره د اورنګزيب په سلوک خاموشي مصلحت ته نزدې ليدله او غوره ئې کړه. نو د شيخ ضياء الدين صاحب د وفات د اسبابو په حقله د روايت په شهرت او په باب ئې د افضل خان په خاموشی او په تاريخ مرصع کښې د کال ۱۰۸۶ هجري نه پس د واقعاتو په حقله د خوشحال بابا له بياضه د اقتباساتو په فقدان اګر کۀ ثبوت نۀ لرو چې د ياد شوي کال نه پس خوشحال بابا واقعات ليکلي وو او کۀ نه، چې غور کوؤ نو راته د خپل مؤرخ خاموشي هم تر ډيره حده دغسې معني خيزه ښکاري. لکه اورنګزيب عالمګير د مؤرخانو ياده شوې خاموشي. بالکل نه تر ډير حده دې دپاره چې د نور معاصرانه دستاويزي شهادت له رويه په دغه باب اختلاف نشته چې شاهجهان د اورنګزيب ل لاسه تر مرګه خواؤشا اتۀ کاله نظر بندي تيره کړې وه. (اګر کۀ د معاملې په ابتداء کښې داراشکوه عملاً معطل کړے وۀ) او څۀ موده پس وژلے شوے وۀ. سوال صرف د هغۀ د اعمال د جواز او نۀ جواز دے تر څو چې زما د محدودو معلوماتو تعلق دے د شيخ ضياء الدين صاحب او د اشرف خان مقدمه کښې د مؤخر الذکر خلاف د الزام په تائيد کښې د دواړو

منخه د ډېرو بدمزګيو نه پس د شيخ صاحب موصوف د خان مذکور په حبس کېنې راتلل او نساپه وفات کېدل او د هجري هغه اشعار دي چې د هغهٔ دا احساس ترې ظاهرېږي چې د هغهٔ لاسه څهٔ داسې کار شوے دے چې د حضرت شيخ رحمکار رحمة الله عليه سره د عقيدت او په حقله ني د ادب او احترام منافي دے او په پاداش کښې ئې الله جل شانه د قيد او بند بلا ودوچاره کړې وه. اګر کهٔ دا خبرې خان له د الزام د ثبوت دپاره کافي نهٔ دي خو د ملزم د زې خاموشي چې د پښتون د مؤرخ کېدلو ذمه دارانه حيثيت ئې قبول کړے دے هغه شک لـه چې له ديو خبرو د ملزم خلاف پيدا کېږي ډېر زيات تقويت ورکوي او زمونږ په مؤرخ د ګمان شهادت، کهٔ ښکاره کړے ئې وے نو نهٔ ده معلومه چې سنجونکيو به ترې څهٔ نتيجه وکښله او د مؤرخانه فرائضو په ادائيګۍ کښې د لويې کوتاهي الزام عائدوي.

( ) لکه چې اګاهو هم په عرض رسولي شوي دي په تذکرة الاولياء کښې افضل خان د هغو اويائے کرامو د حالاتو نه علاوه چې خواجه نعمت الله په مخزن افغاني يا تاريخ خان جهاني کښې ياد کړي دي د خنو نورو صاحبانو حالات پخپله ليکلي او ورسره لګولي دي. په ديو کښې خنې خو کم مشهور دي او نور ډېر زيات شهرت لري. علي الخصوص حضرت شيخ رحمکار رحمة الله عليه چې د هغوي هومره شهرت او عزت په ګرده پښتونخوا کښې زما تر عـمـه ما سوا له حضرت سيد علي ترمذي ثم بُنيري معروف په پير بابا رحمة الله عليه بل چا ولي نه نهٔ دے حاصل. خو افضل خان پير بابا رحمة الله عليه په تذکره کښې غالباً دې دپاره نهٔ دئ ياد کړے چې د پښتونولی د غلط محدود او دقيانوسي تصور له رويه هغوي پښتون نهٔ وو نهٔ اصلي او نهٔ وصلي. بختيار او مشواني کهٔ هر څو د پښتنو د نسابانو په نزد سيدان دي خو هـ کله چې په ترتيب د شيرانو او کاکړو وصليان دي نو هغوي او هم حضرت خواجه قطب الدين بختيار کاکي صاحب او حضرت سيد آدم بنوري صاحب رحمة الله عليهما پښتانهٔ وو او حضرت پير بابا رحمة الله عليه پښتون نهٔ وهٔ. لاکن افضل خان دې خبرې ته پام ونهٔ کړو او نهٔ شوپرې پوه (او له بده مرغه نن هم نالوستلي خو پرېږدئ ډېر لوستونکي پښتانهٔ پرې هم نهٔ دي پوه) چې د قوميت عناصر څهٔ دي او څهٔ نه. حضرت پير بابا رحمة الله عليه د پښتنو زمکه غوره کړے دلته استوګن شوے او هم دلته ئې عمر د پښتنو په اصلاح او ورته په ارشاد کولو کښې تېر کړے دے هم دلته وفات او سپارلي شوي او د اولاد يوه ډېره لويه ګنه ئې پښتانهٔ او پښتنو سره خپل مرګ ژواک او سود زيان شريک کړے په پښتونخوا کښې ميشته دي يو څـو نور صاحبان چې ذکر ئې پکار وهٔ او نهٔ دے شوے حضرت سيد عبدالوهاب ترين د اکبر پوره حضرت حاجي عبدالله عُرف حاجي بهادر صاحب کوهاټي او حضرت شيخ دريا خان

ځمکنے رحمهم الله تعالي دي چې درې واړه صاحبان ډیر مشهور او محترم دي. دوي دې دپاره هم د ذکر وړ وو چې حضرت شیخ رحمکار رحمة الله علیه سره ئې خصوصي تعلق درلۀ. اولني صاحب لکه چې د هغوي نمسي واثي د حضرت شیخ رحمکار علیه الرحمة د والد ماجد حضرت شیخ بهادر دین رحمة الله تعالي مرشد او د تذکره شیخ رحمکار د مؤلف سید میاں سیاح الدین صاحب کاکاخیل د وینا مطابق مسترشد وو د دویم صاحب لکه چې هم ستائیلي مؤلف لیکلي دي او د حضرت شیخ رحمکار یو تر بله ډیر تعلق خاطر وۀ او یو بل لره به تلل راتلل هم. دریم صاحب د حضرت شیخ رحمکار په خاصو مریدانو او خلفاؤ کښې هم دے او د مؤلف خاندان د هغۀ د غور نیکۀ شهباز خان راهسې د حضرت شیخ رحمکار ډیر زیات عقیدتمند وۀ او د هغوي فرزند شیخ ضیاء الدین صاحب د خوشحال بابا زوم او فقیر جمیل بیګ صاحب د خوشحال بابا سکه کشر ورور د حضرت شیخ رحمکار له خاصو مریدانو او خلفاؤ ځنې وۀ.

(۷) په تذکره الاولیا کښې چې د تاریخ مرصع له مؤلفه په انتخاب کښې کوتاهی شوي ده دي د هغو نشاندهی په تسلسل کښې باید چې د ګردې تذکرې، د خواجه نعمت الله د لیکلے برخې سره پرې د افضل خان د اضافې، د مندرجاتو په حقله هم ځخو وونیل شي. په تذکره کښې لیکلو شویو ډیرو خبرو ته نۀ خو علم (چې د تجربې یا مشاهدې او عقل په بنا حاصلیدونے شي او د هر چا دپاره ئې د مجرب یا مشهور او معقول کیدلو امکان وي) او نۀ ایمان وئیلې کیدل شي. البته د اعتقاد او خوش اعتقادی له نوعه ضرور دي. بیا په دیو کښې متاسفانه ځنې داسې خبرې هم شته چې د پیر پرستی او توهم پرستی پالونکي او د دین او شریعت له احکامو کا ځوک غواړي ورته د خلاصي لیسنس وربخښونکي دي. او بیا د تذکرې نه لرې مندرجات له هغه قسمه خبرو دي چې د مرستې او مېنود توان ګوزنې کوي. او هم مافوق العاده اسېرو لک خوارقو وته بې له خپلو لاسو پښو خوزولو او وهلو د ماتلتیا او ترې د هیلې نغوته کوي. او په هغې برخې کښې چې خواجه نعمت الله لیکلې ده د خیال انګیزی دپاره یوه نیمه خبره (ا ورلره چې د پروپیګنډې یوه مؤثره طریقه ده هم یوه نیمه خبره پکار ده) د مغلو د حکومت حق کښې او د پښتنو برخلاف وضع شوي هم ښکاري. (۲۷۹، ۵۳۸) خو په هرنر حال لیکونکي له نیته ئې خدایے خبر دے.

الحمد لله والمنة زۀ په حیثیت د یوۀ مسلمان د مافوق العاده او د انبیائے کرام علیه السلام د معجزاتو یقیناً منونکے یم او هر کله چې د اولیاء الله د ګروه وجود او عظمت له قرآ او حدیثه ثابت دے نو کۀ هر څو د کوم یوۀ سړي ولي الله منل نۀ منل د ایمان له مقتضیاتو

دي. په مجموعي حيثيت ئې منل ضروري گڼم. او د دې نه هم انكار نهٔ كوم چې د الله تعالي د مشيت او حكمت مطابق له دغو صاحبانو د خوارقو ظهور ممكن دے خو دلته دغه خبره ښكاره كول هم انتهائي ضروري گڼم چې نهٔ هر سړے چې خوارق ترې ظاهريږي ولي الله دے. د ولايت معيار لكه چې له قرآن مجيده او حديث شريفه ثابته ده خوارق نه بلكې الله جل شانه سره محبت او د هغهٔ د احكامو اطاعت كول دي او دا بې له دې چې د هغهٔ جل شانه مقبول نبي آخر الزمان حضرت محمد رسول الله ﷺ سره محبت او اطاعت ئې وكړل شي ممكن نه ږي. نوو هر څو كهٔ څوک د چا په حقله ښهٔ نه ښهٔ اعتقاد لري او زيات نه زيات عزت او احترام ئې كوري د كتاب او سنت په رڼا او حدودو كښې دې ئې لري او كوي او خپل مقصود ته د رسيدلو او د مرام د حاصلولو دپاره چې پرې د عمل او جدوجهد په الله تعالي د توكل سره. كوم حوق هدے ترې دې خان د خوارقو په انتظار كښې نهٔ غړوي.

هٔ كتاب په حقله د برنيو معروضاتو نه پس وړومبے له دې چې د صاحب كتاب پحقله هم څهٔ ووئيل شي بايد چې د معلومولو كوشش وكړو چې كتاب كله ليكلے شوے وهٔ او د كتاب دد عبارت، د افضل خان د ليک د انداز په باب هم څهٔ ووايو. افضل خان په خپل كتاب تاريخ مرصع كښې تر ۲۲ شوال ۱۱۳۶ هجري (۱۴ جولائي ۱۷۲۴ ء) پورې واقعات راوړي دي. موونږ د خپل تر دا وخته مبنود په بنا نهٔ شو وئيلے چې افضل خان كتاب كله شروع كړے او كله ئې ختم كړے وهٔ. د دواړو خبرو تعين گران دے. د شاهجهان د عهد د څنو واقعاتو چې ۱۰۴۰ هجري (۱۶۳۰ ء) او ورپسې نزدې زمانې سره تعلق لري د بيانولو نه پس وائي: "بادشاه په حضور وبلل وطن ئې پاني پت څخه وركړ اوس چې سن هجري زر سل درويشت دے هغه وطن د دوي د اولاد په تصرف كښې دے پس له هغهٔ د شاهجهان بادشاه، شاهزاده دارا شكوه چې ولي عهد زوے د دهٔ وهٔ په آگره كښې بندي كړ په هغه اوان مهابت خان د كابل صوبه د دار وهٔ" (ص ۲۱۶. ۲۱۷/ ۲۵۴) د شاهجهان ناروغتيا او د دارا شكوه د حكومت د يک اختيار قابو كولو واقعات اواخر ۱۰۶۷ هجري (ستمبر ۱۶۵۷ ء) سره تعلق لري. د بداليو و سلطانانو او ميرويس غلځي د حالاتو د بيان (ص ۳۳۱، ۳۳۲/ ۳۹۸ تر ۴۰۲) په آخر كښې د ميرويس په حقله وائي "تر دا تاريخ چې سن زر سل خليريشت دے په قندهار دست د خپل حكومت او سرداري كا توفيق ئې رفيق شه ښهٔ پښتون دے." په وړومبي اقتباس كښې د "اوس" لفظ او په وروستي كښې "د تر دا تاريخ" د تورو په بنا وئيلے شو چې دغه عبارتونه هم پكښې د يادو شويو كلونو په دوران كښې ليكلے كيدل. او له ص ۲۱۶ تر ۲۵۵/۳۳۴ تر ۳۰۲ مواد مسلسل، او كهٔ په وقفه نو هم په لږه ليكلے شوے وهٔ. د ميرويس په

حقلـه د بيـان ختمولو نه پس افضل خان بيا د کال ۱۱۲۳ هجري (۱۷۱۱-۱۲ ء) يوې واقعې بيـانـولـو نه پـس وائي "په سن څليريشت بهرام نحوست انجام په نوبنهر کښې په حال سگ گرسنه پروت په هسې حال ورغلے وۀ" الخ (ص ۳۳۴/۴۰۵) دلته به د ماضي بعيد صيغې له استعماله بايد چې ووايو چې دغه ځاے د کال ۱۱۲۴ هجري نه کۀ ډيره نه نو څۀ موده وروستو ضـرور ليـکـلـے شـوے وۀ. او د بيـانـيـې په آخر کښې وائي "دا واقعه په ورځ د دوشنبې دوه ويشتـم د شـوال سنه زر سل شپږ ديرش په وقوع راغله" (ص۳۹۷/۴۸۱) دلته د ماضي مطلق لـه استعماله دا گُمان کيږي چې بيان د واقعې نه پس ليکلے شوے وۀ خو زر په هر حال حتماً او يـقـيـنـاً نـۀ شـو ونيـلـے بيـا د خـوشـحـال بـابـا د يـوۀ وصيـت بيـانـولو او پـه وفـات ئې (۱۱۰۰ هـجـري/۱۶۸۹ ء) د اشـرف خـان هـجري او گوهر خان د تاريخي قطعې رانقلولو نه پـس (لـکـه چې د ص ۳۴۸ قـلـمـي د نـوټ ۱ پـه آخـر کـښې هم ليکلي شوي دي) د کال ۱۰۹۹ هـجـري نـه سـردوبـاره واقـعات راونيسي او د امير خان مير ميران صوبه دار کابل تر مرينې (۱۱۰۹ هجري) حالات بيانوي او ورسره د څنو واقعاتو بيان چې د کال ۱۰۹۹ هـجري نـه وړومبـي شـوي وو هـم ضـمـنـاً راشـي. چـې دا واقـعـات د خوشحال بابا د وفات د خبر په وررسيـدلو او د هغۀ په رحلت د اشرف خان هجري په ليکلے مرثيه ختم کړي. نو بل مضمون تـذکـره الاولـيـاء او وړپـسـې بـعـضـې انـسـاب بيـانـوي. پـه بـادي النظر کښې خو به نۀ چې له ۱۱۳۶ هـجـري پـورې واقـعـاتـو نه په کتاب کښې وروستو راخي د هغو واقعاتو د ليک نه به وروستـو ليـکـلـي شـوي وي خـو مـونږ په تذکرة الاولياء کښې د فقير جميل بيگ صاحب د مـنـاقبـو پـه ضـمـن کـښـې لـولو (ص ۱۴۳۱، ۱۴۳۲/۱۰۳) چې د ليک په وخت ئې د فقير صـاحـب د پيشگويي مطابق د مؤلف دوه زامن محمد علي او محمد حسن شوي وو او د نورو اميدوار وۀ. لکه چې د سن ۱۱۳۰ هجري اواخر واقعات بيانونکے (ص ۳۴۵، ۳۴۶/ ۴۱۶، ۴۱۷) ولې د تذکرة الاولياء د ياد شوي ځاے نه تاسو اگاهو لولئ: "محمد علي خان په سن د پـانـزده سالگي محمد حسن د چهارده سالگي اسد الله خان د يازده سالگي محمد اشرف د انۀ سالگي په رکاب کښې راسره حاضر وو " د دواړو ځايونو له مقابلې په بنۀ ډول ظاهريږي چې هـغه ځاے چې مونږ ئې په کتاب کښې وړومبے لولو د وروستو لوستلي کيدلي ځايه وړومبے نه بـلـکـې وروسـتـو ليـکـلـے شـوے دے نو له دې قبله به بې ځايه نۀ وي کۀ مونږ دا اخذ کړو چې مؤلف وړومبے د کتاب اوله او دريمه برخه وليکله چې ماسوا د دريمې برخې د يو څو پاڼو (په مـقـابـلـه د دواړو بـرخـو د مـجـموعې) د مخزن افغاني په ترجمه مبني ده او بيا ئې دويمه برخه وليکله چې اصل پښتو کتاب دے افضل خان پخپله هم په ديباچه کښې وائي "هم دا تواريخ

ې د پښتنو بادشاهانو له فارسی نه چې په وخت د جهانګیر بادشاه د خان جهان لودي په حکم
حې د فرزند خان پـه خطاب سرفراز وۀ، خواجه نعمت الله هروي کړے وۀ ترجمه کړ او هر
چې پس له هغۀ لغایت د خان جهان لودي لوي لوي امراګان د پښتنو تیر شوي او سرګزشت د
کابل د صوبې او حقیقت د خپل قبائل او اولیاء الله چې پس د هغه نې تیغ د ولایت په میدان د
هدایت بلند کړے دے ورسره مې پیوند او ملحق کړ." (ص ۱۰/۱۴)

د دغه عبارت خلاصه مطلب هم دا دے چې وړومبے ټول فارسي کتاب ترجمه شو بیا
: امراء او د کابل د صوبې سرګزشت او د هغه اولیاء چې په فارسي کتاب کښې د یادو شویو
ولیاز نه پس نې د هدایت په میدان د ولایت تیغ (یا طغ) بلند کړے وۀ حالات ولیکلے شول.
د تذکرة الاولیاء د هغې برخې په حقله چې د افضل خان اضافه ده بیان نې زما قیاس سره سمون
ۀ خوري کۀ د افضل خان خپل سرګزشت هم د کابل د صوبې د واقعاتو جز وي نو لکه چې
ښکاره کړل شول دا به د تذکرة الاولیاء د هغۀ د اضافې نه وروستو لیکلے شوے دے لکه چې
تاسو به زر په کیدونکیو معروضاتو کښې وخیرئ. افضل خان د ۱۱۳٦ هجري نه پس هم لکه
چې له روایاتو ښکاري ډیر کلونه ژوندے وۀ او د ژوند په دغه وروستی موده کښې نې په
پښتونخوا او هندوستان کښې ډیر اهم واقعات شوي وو نو کۀ افضل خان د تاریخ مرصع لکه
چې مونږ ته رارسیدلے دے دویمه برخه د ۲۲ شوال ۱۱۳٦ هجري نه زر پس پائ ته رسولي
وي نو څۀ ووایو چې ترې د پس ته واقعاتو ذکر په تاریخ مرصع کښې ولې نشته. آیا د دویمې
برخې هغه حصه چې د کال ۱۱۲۴ هجري نه د وروستو کلونو د واقعاتو په حقله ده د کال
۱۱۳٦ هجري نه ډیره وروستو لیکلې شوې وه. چرته د عمر په اخري حصه کښې؟ آیا د کال
۱۱۳٦ هجري نه نې زر پس لیکلې وه او بیا ورته مشکلات مثلاً جسماني عوارض، خانداني
شخړې، جنجالونه، د چا په مرګ غمونه صدمات وغیره یا د ملکي حالاتو د ابترۍ په وجه
پریشانۍ وربیښ شوي وو چې ډیر څۀ چې لیکل نې پکار وو او غوښتل نې وۀ نې نۀ لیکلے
شو؟ آیا لیکلي نې وو خو ورک شول؟ آیا د عمر او د حکومت د زمانې په حقله نې روایات
محل نظر دي؟ والله اعلم بالصواب او هم له هغۀ مو سوال دے چې توفیق او توان راکړي چې د
خپې ثقافتي ورثې د لټون دپاره خپل مښود او کوشش جاري وساتو او هغه لوے ذات دې نې
بار آور هم کړي. اګر کۀ په تاریخ مرصع کښې خواه په هغو برخو کښې چې افضل خان له
فارسی ترجمه کړي او کۀ خپله لیکلي دي نه لږ خایه د فارسی او عربی د الفاظو استعمال غیر
ضروري او د عبارت ترکیب کښې تصنع لیدۀ شي او د لوستونکي طبیعت نې ګراني
محسوسوي خو د پښتو نثر د ارتقا مدارج او مراحل نظر د وړاندې د کتاب عبارت عام طور

سره نهٔ صرف گوارا بلکې ښهٔ دے خو مشکله دا ده چې په تاريخ مرصع کښې د خوشحال بابا د نثر په موجودګی کښې هسې ليدهٔ شي چې د تاريخ مرصع مؤلف په خامے په مخ د تللو په شا تـلـلـے دے د افـضـل خـان د نثـر سـره د خـوبيـو ئـې لويه خامي دا ده چې څو خلې ئې مونږ د خـوشـحـال بـابا د نثر نه وروستو لولو خو کهٔ د خوشحال بابا د نثر نه نظر واړوؤ نو ونيلے شو چې د پښتو نثر د ارتقا په سلسله کښې د تاريخ مرصع نثر له اهمو کړيو څخې يوه کړی ده.

تر څو چې د افضل خان د ژوند تعلق دے هغه پخپله خپل حالات چې څهٔ او څومره ئې ښـئيـل غوښتل يا ئې ضروري ګڼل هم دغه کتاب کښې د کال ۱۱۳۶ هجري تر اواخر ليکلي دي. او تـرې د پـس تـه حالاتو په باب ئې د معلوماتو بله ذريعه سيوا له يو څو کم پايه ؤ اسنادو چې په باره کښې ئې د شمير يو څو خبرې کوي، نهٔ لرو چې څهٔ افضل خان د خان په حقله په کتـاب کښـې ليـکلي دي ښاغلي لوستونکي به ئې پخپله وخيري او دلته ئې له وخته وړومبے د افشـا کـولـو ضـرورت نشتـه. البتـه د هـغهٔ د زيږون او وفات د کلونو، د هغهٔ د شخصيت او د پښتـون پـه تـاريخ کښې ئې د رول په باره کښې به يو څو خبرې کول بې خايه نهٔ وي. لکه چې هـغـه پـخپـلـه مـونـږ خبروي چې پلار ئې اشرف خان هجري په ۱۰۹۲ هجري (۱۳۸۱/۸۲ هجري) کښې د ثور په آخري يا د جوزا په وړومبني تاريخ (۲۱/۲۲ مئ ۱۶۸۱ء مطابق ۳/۴ جـمادي الاول ۱۰۹۲ هجري) راجه رام سنګهـ سره په جمرود کښې د ملاقات نه پس پيښور تـه راستـون شـوے، هـورے ګـرفتـاريـدو نو افضل خان د شپاړسو او وولسو کالو وهٔ (۲۳۰/ ۲۹۲ او ۴۰۷/۴۹۳) [وګورئ زما تاليف" خوشحال خان خټک" (اردو) صفحې ۹۹، ۱۰۰، ۱۰۴ تر ۱۰۶ او ۲۰۳.] عـلاوه لـه دې خـوشـحـال بـابـا د رنتهمبور په کوټ کښې ليکلې شوې مثنوی کښـې هـم چې په کښې ئې د سنګاؤ پناه ګير ياد کړي دي د افضل خان ذکر کوي. خوشحال بـابـا پـه هـنـدوسـتـان کښـې د خپـل قيـد وړومبی برخـه پـه دهلي کښې لـه مينځ رمضان ۱۰ هجري تر رجب ۱۰۷۵ هجري او وروستی په رنتهمبور کښې له رجب ۱۰۷۵ هجري تـر ذيـقـعـد ۱۰۷۶ هـجري تيره کړې وه. نو د دغه شهادت له رويه مونږ کال ۱۰۷۵ هجري (۱۶۶۴/۶۵ء) يـا ۱۰۷۶ هـجـري (۱۶۶۵ء/۶۶ء) د خپـل مـورخ د زيږون کال ګڼلے شو پـاتـې شـو د وفـات کـال ئـې نـو مونږ ئې په باره کښې ماسوا د کاظم خان شيدا د خپل پلار په مـرګ ليکلي له يوې تاريخي قطعې، په شرط د دې چې کاظم خان شيدا لکه چې هغه عام طور سـره ګـڼـل کـيـږي د افـضل خان زوے دي. نور څهٔ شهادت نهٔ لرو ياده شوې تاريخي قطعه د کاظم خان شيدا په ديوان کښې د "پلار مړينه" عنوان لاندې درج ده:

چې والد مې ارتحال وکړ خامے ئې جنت شهٔ دنيا زندان ده

تاریخ ئې دا رنګ د رحلت وړې   خرد و ماته "میاشت شعبان ده"

(۱۰۵۴ هجري سره د اردو مقدمې ،ترجمې او شرحې له ډاکټر سید انوار الحق صاحب)

آخري اعنـي تاريخي مصرعه په دوو نورو چاپو دیوانونو کښې چې په ترتیب ښاغلي همېش ګل خلیل او عبدالرؤف بینوا ساز کړي دي: خرد و ماته "میاشت د شعبان ده" (۶۵۵) او خرد و ماته "میاشت د شعبان وه" (۲۱۶) راغلې ده. په دریمې نسخه کښې ردیف "وه" او دوؤ نورو کښې "ده" دے . لـه دريـمې نسخې دا خيال كيدے شي چې شاعر د پلار په مرګ دوه تـاریخي قطعې لیکلې وے . د بلې قطعې(۱)اوله مصرعه ده: ."غم به تر عمره د خپل والد کړم". خو دوؤ نورو کښې "غـم بـه تر عمره د والدې کړم" ده او د تاریخي الفاظو (چې په دريو واړو نسخو کښې يو شان دي) ګڼه په وړومبیو دوؤ نسخو کښې ۱۱۸۹ ښنیلے شوے ده او دریمې نۀ ده ښنیلے د "د پلار مرینه" عنوان لاندې د لیکلې شوې قطعې چې یوه مې رانقل کړه اعـداد پـه دريو واړو نسخو کښې "۱۱۸۳" ښنیلے شوي دي.د دغه شمیر له رویه الفاظ صـرف "مياشـت شـعبـان ده" پکار دي لکه چې په وړومبی یادې شوې نسخه کښې دي. کۀ ردیف "ده" وي (لـكه په اوله او دويمه نسخه کښې) نو د حرف اضافت "د" په زياتولو به ګڼه "۱۱۸۷" شـي او "وه" ردیف سره د حرف اضافت (بې عـنـوانه د وړومبي عنوان (عنوان لرونکے) قطعې لاندې لیکلې شوې ده) پـه حـذف او بې حذفه به اعداد په ترتيب "۱۱۸۵" او "۱۱۸۹" وي. میـجر راورټي په "سیلیکشنز فرام دي پوښتو آؤ دي افغانز" (د شيدا د منتخب كلام په تـرجـمـې لیکلې نوټ) شیرمحمد خان ګنډه پور په "تاریخ خورشید جهان" (ص ۲۴۱) کښې *(اګر کۀ دا وخت خو زما په مخکښې د محمد حیات خان کهټر "تاريخ حيات الافغاني" نشته خو ما د خپل اردو کتـاب "خـوشـحال خان ختـک" د لیکلو په دوران کښې او تېرې پس ته هم ئې انګریزي ترجمه کتلے ده ځکه هم (کۀ مې یاد خطا نۀ وي) کاظم خان د افضل خان زوے یادوي بلکه د ملک اکوړي او د اولاد متعلق ئې د "تاريخ خورشيد جهان"، او د تاريخ "حيات الافغاني" مقاله او نور مواد هم ځومره چې تر نظره تیر شوي دي بالکل یو شان دي. په دے لړ کښې "د تاريخ خورشید جهان" دیباچه د لوستلو ده.)* او پلاؤډن هم (د کلید افغاني انګریزي ترجمه ص۳۳۷ حاشیه ۱) کاظم خان شیدا د افضل خان په زامنو کښې يـاد کړے دے او د کـاظم خان له دیوانه (مثنوي "د پښتو شعر حسب حال" ځينو نورو ځـایـونو او پرې د شاعر له خپلې مقدمې نه صرف دا اندازه کیدے شي چې ختـک او اصلاً د سـرانـے وسیـدونکے وۀ بلکه دا هم چې د خوشحال بابا له خاندانه وۀ. هیله ده چې دا لاندینې څو اقتباسات به په دغه ضمن کښې فائده لري:

(۱) راقم د دے صحیفې محمد کاظم شیدا تخلص، ختـک نسب الخ (مقدمه)

(۲) که دې جام لکه حباب وننهٔ نیو سیند ته آفرین دې په همت شیدا ختټکه (غزل)

(۳)

په دا هونبره پښتنو کښې
بیا په ژبه د پښتو کښې
په دا فن کښې څو اشخاص دي
چې په نزد د خرد خاص دي
چې خوشګونې وهمه دان دي
ډیر د مونږ د خاندان دي

د پښتو شعر معلوم وهٔ
په معني کښې کالمعدوم وهٔ
چې قلم په لاس د خان شهٔ
مرتب ئې لوړے دیوان شهٔ
تصانیف ئې فراوان شول
مستند د درست افغان شول

هر شاعر چې د افغان دے
ریزه چین د خان د خوان دے
في المثل کهٔ بل مهتاب وي
مستفید د دے آفتاب وي
سرائے مطلع د دے آفتاب دے
په عالم ئې هر ځائے تاب دے

(۴) چې ګذر وکړے صبا د سرائے په لوري
آواره بلبل ئې یاد په ګل زمین کړه
(۵) د افغان له شعرا په شیدا باندې
د ادب په مقتضي د خان شرف دے
(٦) شیدا خان به دې کا میر د شاعرانو
کهٔ مزار ونه ئې عرض د تا انشا شي
(غزلیات)

میجر راورټي په یاد شوي نوټ کښې وائي چې کاظم خان متخلص په شیدا د ختټکو د سردار افضل خان چې د ګنهو ، وسیعو او مفیدو نثري کتابونو مؤلف وهٔ زوے ، د شاعر اشرف خان نمسے او د خوشحال خان کړوسے وهٔ. چې ۱۱۳۵ ء(۱۲ اکتوبر ۱۷۲۲ ء تر ۳۰ ستمبر ۱۷۲۳ ء) نه پس پینځو کلونو کښې زیږیدلے وهٔ. هر کله چې د افضل خان په مرګ د هغهٔ زوے اسدالله خان سردار شو نو کاظم خان چې ئې له ورونو عزیزانو زور زیاتے ولیدلو نو وطن پریښودلو ته جوړ شو او سره د اسدالله خان چې په کاظم خان مهربانه وهٔ د ترغیب او تسلی ئې وطن پریښود خو کلونه ئې په کشمیر کښې د علم په حاصلولو کښې تیر کړل، بیا سرهند ته او اخر رامپور ته لاړ او هورې میشته شو او هم هغه ځائے د خپل عمر ډیر برخه تیرولو نه پس ومړ خو لږه موده پس ئې خپل خپلوان لاړل او له رامپوره ئې د هغهٔ نعش سرائے ته راوړو (ص ۳۰۵ تر ۳۰۷)

د بره یادې شوې قطعې د افضل خان د تاریخ مرصع د مؤلف په وفات د لیکلو ییا په

نورو الفـاظـو کښې د قـطـعـې ویـونـکي کـاظم خـان شیدا د افضل خـان د زوي کیدلو او د مؤخرالذکر د وفات کال ۱۱۸۳ هجري منلو په صورت کښې چې کوم سوالونه یا اعتراضونه پیداوېږي باید چې په ګوته کړل شي او ممکن ځواب ئې خواه شافي یا نه وشي:

(ا) پـه تـاریـخ مـرصـع کښـې زمـونږ د مؤرخ افضل خان د زامنو په نامو کښې چې ئې یادې کړې دي د محمد کاظم، کاظم خان شیدا یا شیدا نامه چیرې نۀ ده راغلې

(ب) د کاظم خان شیدا په ګنو تاریخي قطعو کښې یوه د دوؤ وروڼو فتح الله او الله نور په مړینې ده. چې کال ئې "آها د قلوب غم"، (۱۱۸۹ هجري) ښنیلې شوې دے.(د بینوا نسخه کښې "هي هي د قلوب غم"، او اعداد ۱۱۹۱ د دیو الفاظو اعداد ۱۲۱۲ جوړیږي.) په مقدمه کښې ئې د محمد عابد خان نوم هم په طور د خپل وررور اخستلے دے له دغو دریو واړو نامو یوه هم په تاریخ مرصع کښې د افضل خان د خامنو په نامو کښې تر نظره نۀ راځي.

تـر څـو چې د دغـو خبـرو یـا مشـکلاتو تعلق دے نو کۀ افضل خان لکه چې موعرض کـړے دے پـه ۱۰۷۵ـ۷۶ هـ کښې زیږیدلے وۀ نو په شوال ۱۱۳۶ هجري کښې چې تر هغې مـودې ئـې پـه تـاریـخ مـرصـع کښـې حـالات راوړي دي به د شپیتو یو شپیتو کالو وۀ نۀ خو نـامـمـکـنـه او نۀ غیر اغلبه ده چې په ۱۱۳۶ هجري کښې او ترې پس ته ئې نور زامن لوئه هم شـوي وي. یـا دا چـې په شوال ۱۱۳۶ هجري کښې ئې ځنې زامن دومره واړۀ وو چې د هغو د ذکر موقع تر دغه وخته د واقعاتو په بیان کښې رانغله.

(ج) شیـر مـحـمـد خـان ګنده پور په "تاریخ خورشید جهان" (ص ۲۴۴) کښې وائي "-----اشرف خان، هم درآن قید خانه خودکشی کرد- پس به جائے او محمد افضل خان فرزند اشرف خان رئیس شد مگر از نزاع و خدشه بهرام خان به آرام گذران کردن نمی توانست- درین حالت پرحسرت خوشحال خان وفات کرد و بعد از و بهرام خان نیز مرد و محمد افضل خان شصت و یک سال حکمرانی بالاستقلال نموده انتقال کرد-" اوس کۀ په دغه عبارت غور و کړو نو وائي چې:

(۱) اشرف خان چې وفات شو نو افضل خان رئیس شو.

(۲) خو ریاست ئې د بهرام خان د مخالفت له عمله بې سکونه بې آرامه وۀ.

(۳) په دغه پُرحسرته حالاتو کښې خوشحال خان وفات شو.

نـه چـرې سند شته، نۀ تاریخ شته او نۀ سن. کۀ دا خبرې صحیح وي نو خوشحال خان د شـرف خـان د مـرګ یا مبینه خودکشی نه وروستو د بهرام او افضل خان د نزاع په دوران کښـې وفـات شـوے وۀ د افـضـل خـان او بهـرام خـان نزاع خو د اشرف خان ګرفتاری سره شروع شوه او د اشـرف خان او خوشحال خان د ژوند او د دغه نزاع څۀ موده ضرور شریکه ده. او خـوشـحـال بـابا هم د دغه نزاع په دوران یا "حالت پُرحسرت" کښې وفات شوے وۀ.

خو د "تاریخ خورشید جهان" د مؤلف لکه چې هغه د واقعاتو ترتیب قائم کړے دے د اشرف خان د مرګ نه پس د خوشحال خان مړینه بیانول عجیبه خبره ده ځکه چې افضل خان راته د نیکهٔ د مرګ کال د اشرف خان هجري او ګوهر خان د تاریخي قطعو په بنا ۱۱۰۰ هجري او د پلار د مرګ کال د آزاد خان د قطعې په بنا ۱۱۰۲ هجري ښیي. علاوه له دې اشرف خان د خپل مرګ نه پس څنګه د پلار په مرګ قطعه او مرثیه چې دواړه به تاسو په دغه کتاب کښې ولولئ وليکله. د اشرف خان په دیوان کښې نور هم قطعې شهادت د دې خبرې شته چې خوشحال بابا د هغهٔ نه اګاهو په ۱۱۰۰ هجري کښې حق رسیدلے وهٔ.

(۴) لکه چې تاسو ولیدل د "تاریخ خورشید جهان" مؤلف لیکي چې د بهرام د مړینې نه پس افضل خان په استقلال یو شپیتهٔ کاله حکمراني وکړه. بهرام خان کله مړ وهٔ او له کومه کاله افضل خان یو شپیتهٔ کاله په استقلال خاني او سرداري وکړه؟ مؤلف موصوف خو راته نهٔ ښیي خو د تاریخ مرصع د مؤلف د بیان له رویه بهرام خان په ۱۱۲۴ هجري کښې وفات شوے وهٔ. (ص ۳۳۷، ۴۰۶ و ۴۰۷) نو حاصل ئې دا شو چې افضل خان تر ۱۱۸۵ هجري حکومت وکړو او و مړ (------حکمرانی باالاستقلال نموده انتقال کرد.) یا په نورو الفاظو کښې تر ۱۱۸۵ هجري ژوندے وهٔ. نو کهٔ کاظم خان د افضل خان زوے وهٔ او دې او کاظم خان شیدا هم یو کس وي نو یا خو یادې شوے قطعې کښې څهٔ نقص یا غلطي ده یا د تاریخ "خورشید جهان" په بیان کښې د دغه مشکل د حل کولو دپاره به (کهٔ مونږ د "تاریخ خورشید جهان" بیان قبلوؤ) په یادې شوې قطعې کښې ردیف (لکه د بینوا د نسخې اګر کهٔ هغوي هم اعداد ۱۱۸۳ لیکلي دي) د "ده" په ځاے "وه" کول غواړي او په تاریخي الفاظو کښې به د میاشت او شعبان تر مینځه حرف اضافت "د" حذف کوؤ لکه "میاشت شعبان وه" خو خبره دلته نهٔ ایساریږي . د "تاریخ خورشید جهان" مؤلف او د تاریخ پشاور مرتب وائي چې د افضل خان د مرګ نه پس ئې یو زوے محمد علي خان په اکوړه (سرائے اکوړه) کښې او بل زوے ئې سعدالله خان (چې مراد ترې غالباً اسدالله خان دے لکه چې افضل خان ئې نامه لیکي) په ټیري کښې د خانی په مسند کښیناست . محمد علي خان په ټیري چپاؤ وکړ خو مات شو او سعدالله خان راغے محمد علي خان ئې له اکوړې هم بې دخله کړ خو په هغو شپو ورځو کښې چې د سعدالله خان زوے د احمد شاه بابا د څنګه هندوستان ته لاړ وهٔ د محمد علي خان زوې لښکرخان په اکوړې چپاؤ وکړ او سعدالله خان ئې سره د یوهٔ زویه ووژلو چې د سعدالله خان یو بل زوے خوشحال خان چې په ټیري کښې وهٔ له دې سانحې خبر شو نو په اکوړې راغے او لښکر خان ئې پره کړے بُنیر ته وزغلولو خو لښکر خان هورې هم تم نهٔ شو او د کن

ته لاړ او د نـواب منو خان نوکر شو. احمد شاه بابا چې له هندوستانه راوجاروت نو د سعادت منـد خان په التماس ئې هغه لښکر خان له دکنه راوغوښت او سعادت مند خان ته ئې وسپارلو ا. هغهٔ د پلار او وررور په قصاص کښې ومړولو. سعادت مند خان د اکوړې او خوشحال خان د تیـرې حاکم شو. څهٔ موده پس خوشحال خان مرهټیو لره چې احمد شاه بابا سره جنګیدلو له تـر حسـن ابـداله راوړاندې شوې وو لاړ او هغوې سره ئې جنګ وکړ او شهید شو. احمد شاه بابا د سعادتمند خانه د مرهټیو مقابلې ته لاړ او هغوې ئې مات کړل (تاریخ خورشید خان ص ۲۴۴..۲۴۵ او تـاریـخ پښـاور ص ۳۸۰..۳۸۱) دا دومـره واقعات کله کوم کوم وخت شـوې وو او پـه کـوم سـنـد ئې بیان شوے دے؟ هیڅ مو نهٔ خبروې. لکه چې په یوه تیره حاشیه کښې مې عرض کړے دے محمد حیات خان کهټړ هم په خپل کتاب کښې بې د تاریخ او سن ر سال لـه قیـده هـم دغـه څـهٔ لیکلې دي. مونږ به د وخت د معلومولو کوشش وکړو. د کاظم خـان شیدا په دیوان کښې د خوشحال خان په وفات یا شهادت چې کومه تاریخي قطعه لیکلې شوې ده متعلقه مصرعه ئې داسې ده "نُور په ګور د شهید خُوان شه" دا تاریخ دے خط کشیده لـفـاظ د شهـادت د واقعـې تاریخ ښیي. ښاغلیو ډاکټر سید انوار الحق صاحب او همیش ګل خلیـل په خپلو مرتبو کړیو نسخو کښې د تاریخي الفاظو اعداد ۱۱۷۷ ښنیلي دي. او ښاغلي بیـنـو ئـې اعـداد نهٔ دي ورکړي. کهٔ د "خوان" وروميے تورے "ج" ولوستلے شي نو اعداد هم ۱۱۷۷ ووځي او کهٔ "ز" ولوستل شي نو ۱۱۸۱ "ذ" له بحثه خارج دے کهٔ خوشحال خان هـم د مـرهـټیـو خـلاف پـه حسـن ابدال کښې په جنګ کښې شهید شوے وهٔ نو سوال پورته کیږي چې مـرهـټـې خـو د پـانـي پـت پـه دریم جنګ (جمادي الثاني ۱۱۷۴ هجري مطابق جنـوري ۱۷۶۱ء) کښـې د احـمـد شـاه بـابـا لـه لاسه بالکل تباه او برباد شوې وو او شمالي هـلـوسـتـان کښـې ئـې د قـوت مـکـمـلـه خـاتـمـه شوې وه نو له هغه پسه په ۱۱۷۷ هجري (۱۷۶۳/۶۴ء) یـا تـرې پسـتـه د هـغـوې تر حسن ابداله پیش قدمي څهٔ معنیٰ لري. او څرنګه مـمـکـنـه ده؟ ډاکـټر ګنډا سنګهه د احمد شاه بابا په سوانح عمری (ص ۲۲۳) کښې د څینو مـرهـټیـو سـردارانـو د اقـدامـاتـو په باره کښې وائي چې ټکوجي هنکر او نرسوجي پنډت په اکتـوبـر نـومبـر ۱۷۵۸ء کښې اباسین لوري ته ایلغار کړے وهٔ او مارچ اپریل ۱۷۸۹ء کښې سابـاجـي پـټیـل پـس لـه جهـلم له سینده د پورې وتو اټک ته روان شوے وهٔ. له دیو په یوې مـرقعې (یـا د هغوې لاهور ته د جاروتلو په موقع) د تیرې خوشحال خان خټک سره د خپل مقامي لښکر مقابلې لره د احمد شاه په حکم ورغے. په حسن ابدال جنګ وشو او خوشحال خان قتل شو. دلته ډاکټر صاحب په حاشیه کښې د محمد حیات خان د "حیات افغاني" حواله

ورکړې ده. تر څو چې د دغه خبرو تعلق دے ترې یوه هم پکښې ماسوا د دې چې خوشحال خان په حسن ابدال مرهټیو سره جنګ کړے وۀ او شهید شوے وۀ نشته. لکه چې د تاریخ خورشید جهان بیان دے او هیڅ کم و زیات نۀ لري. د فاضل سوانح نګار مطلب دا دے چې تاریخ حیات افغاني کښې چې د خوشحال خان خټک په حسن ابدال مرهټیو سره جنګیدل او شهیدیدل لیکلي دي. هغه له یادو شویو موقعو په یوې وو په هر حال مونږه معلومه کړه چې مرهټې په کوم کال کښې حسن ابدال ته راغلي وواو خوشحال خان ورسره جنګ کړے شهید شوے وۀ بره یادې شوې دواړه نیټې په ترتیب محرم، صفر او ربیع الاول ۱۱۷۲ هجري او رجب، شعبان او رمضان ۱۱۷۲ هجري سره سمون خوري. نو اوس کۀ د خوشحال خان په شهادت د شیدا تاریخي قطعه کښې تاریخي الفاظ د "ه" په حذف داسې ولولو" نُور پګور د شهید خوان شۀ" نو تاریخ ۱۱۷۲ هجري راووځي د دې یو بل مثال د خوشحال بابا د طاهر خان په مړینې ونیلے تاریخ دے: "طاهر و مړ پشباب کښې" دا تاریخ دے. محترم فاضل بناغلي حبیبي صاحب د "پشباب" په ځاے "په شباب(۱۱۹۸)" لوستلے او لیکلے دے او تاریخ ئې ۱۱۰۳ ګڼلے دے حال دا چې خوشحال بابا په ۱۱۰۰ هجري کښې حق رسیدلے وۀ. (وګورئ دا خپل کتاب ص۱۷/۴، ص۵۰۷ نوټ ۲ او کلیات خوشحال خان سره د حبیبي صاحب د مقدمې او حواشي د قندهار چاپ ص ۴۶۶ او سره زما د مقدمې او حواشي د پیښور چاپ ص ۴۰۶). نو اوس دا سوالونه پیدا کیږي.

(ا) د محمد علي خان او اسدالله خان یو تر له د خټکو د علاقې د سرائے اکوړه او تیري په خانیو کښې د ویشلو او د خوشحال خان په ۱۰۷۲ هجري (۱۶۸۸/۸۹ء) کښې په حسن ابدال د مرهټیو خلاف جنګ کښې د شهیدیدلو تر مینځه د خومره مودې وقفه ده؟ هغه واقعات چې بره د تاریخ خورشید جهان او تاریخ پشاور وغیرها په حواله یاد شوي دي خومره وخت به ئې اخستلې وي؟

(ب) آیا د دغو ګڼو او اهمو واقعاتو په دوران کښې افضل مړ وۀ کۀ ژوندے؟

(ج) کۀ ژوندے وۀ نو څۀ ئې کړل؟ او د دغه ټولو واقعاتو په دوران کښې په حقله ئې د دغو تاریخونو د لیکونکیو د خاموشی څۀ وجه ده؟ ناممکنه خو نۀ ده چې څۀ داسې وړده رنځورتیا ورپیښه شوے وي لکه فالج، چې په ژوند ئې له کاره ویستلے وي خو یاد شوي تاریخ نویسان دا نۀ وائي بلکه دا چې د بحث د لاندې دا ټول واقعات د افضل خان د مرګ نه پس شوي وو. نو کۀ دا صحیح وي او افضل خان په ۱۱۸۳ هجري کښې وفات شوے وي نو په حسن ابدال کښې په ۱۱۷۲ هجري یا ۱۱۷۷ هجري کښې د هغۀ نمسي خوشحال خان.

مرمتیو سره د جنګ کولو او په شهادت رسیدلو سوال هډو نهٔ پیداویږي. لکه چې ښکاره او عرض هم وشو مرهټې د پاني پت دریم جنګ کښې خراب تراب شوي وو چرته دیرش څلویښت کاله پس بیا هغه وړومبي حال ته نزدې شو چې په کښې ئې په هندوستان کښې د خپل راج قائمولو خوبونه لیدل. خو دغه وخت انګریز دومره زور نیولے وهٔ چې د دهٔ په موجودګی کښې ورته د هغو تیرو خوبونو یادول بې سوده ښکاریدل. اوس نو کهٔ د بحث لاندې واقعات د افضل خان د وفات نه وروستو شوي وي نو د حکومت دیو شپیتو کالو موده ئې باید چې د بهرام خان د مرګ له کاله (۱۱۲۴ هجري) نه بلکې د خوشحال بابا د حق رسیدلو له کاله (۱۱۰۰ هجري) وشمارل شي. او د افضل خان حق رسیدل په ۱۱۲۱ هجري کښې با خواوشا ئې وګڼل شي. نهٔ خو میجر راورټي نه پلاؤډن، نهٔ شیر محمد خان ګنده پور، نهٔ محمد حیات خان کهټر او نهٔ هسیټینګز او ګوپالداس چې د پېښور ضلعې د وړومبي بندوبست کار ئې له ۱۸۶۹ء تر ۱۸۷۴ء د کولو نه پس ورله ریکارډ مرتب کړے او بیا ګوپالداس په اردو ژبه کښې د تاریخ پشاور په نامه چاپولے او خورولے وهٔ د خپلو بیاناتو په تائید کښې کوم اسناد یا سند راوړے دے بلکه له یوه بله اوریدلے خبرې ئې تیرې کړې دي. په دیو کسانو کښې کهٔ میجر راورټي هر څو په پښتونیاتو کښې د مرستې، پوهې او خدمت له رویه یو جوت وچت مقام لرونکے دے. او د کلید افغاني په انګریزی ترجمه د پلاؤډن حواشي هم د هغهٔ په علمي ذوق او محققانه مزاج د لالت کوي د هغوي وینا خصوصاً د داسې خبرو په حقله چې د هغوي نه اګاهو زمانې سره تعلق لري ځان له سند نشي کیدلے د کلي یا علاقې د مشرانو یا سپین ږیریو په غیرو ذمه دارانه خبرو کهٔ عمداً دروغ نه خو د قیاس او تخیل پیداوار دے او نهٔ کول ئې ګوندې د هغوي په بې علمی یا جهالت محمول شوے وے د تاریخ د بنا کوو حال د بندوبستونو په وخت د جوړو شویو ریکارډونو یا مثلونو د نهٔ لږو بیانونو نه ښکاره دے. د راورټي د لیک د معتبر کیدلو په باره کښې به دا هم ووئیل شي چې د هغهٔ د تحقیقاتو او د افضل خان (کهٔ وفات ئې په ۱۱۸۳ هجري یا هډو په ۱۱۶۱ هجري کښې فرض کړل شي): وفات د زمانو تر مینځه د یوې صدی نه کمه موده حائله ده نو کیدے شي چې د هغهٔ داسې کسانو یا کس سره لیدل کتل شوي وي چې کاظم خان شیدا ئې لیدلے وهٔ نو کیدے هم شي ار نهٔ هم. په هر حال راورټي پخپله له دغه قسمه دعویٰ په دې باب نهٔ ده کړې. راورټي لکه چې عرض وشو د شیدا د هجرت سبب د اسدالله خان د وروڼو او عزیزانو سره د ناکردو نه متاثره کیدل بیانوي. او دا هم وائي چې له خپلې ارادې په عکس ئې د اسد الله خان ترغیب او تسلی هم ونهٔ جارایستلو . راورټي د اسدالله خان د ناکردو او د شیدا د هجرت وخت یا

زمانه نهٔ رابښي نو دلته هم دا سوال راپورته کيږي چې کهٔ د محمد علي خان او د اسدالله خان
د خټکو د علاقې په دوؤ خانيو کښې د ويشلو نه د خوشحال خان تر شهادته واقعات لکه چې
اغلب دي چې د ۱۱۶۱ هجري او ۱۱۷۲ هجري تر مينځه شوي وو، د شيدا د پلار په مړينې
ليکلې شوې تاريخي قطعه د افضل خان بن اشرف خان هجري بن ستر خوشحال خان خټک
د تاريخ مرصع مؤلف د وفات په حقله ده. (چې د قطعې له رويه په ۱۱۸۳ هجري کښې وهٔ) نو
د افضل خان له ۱۱۶۱ هجري تر ۱۱۷۳ هجري څهٔ حال او پوزيشن وهٔ. دلته به دا بښينه هم
بې ځايه نهٔ وي چې راورټي، پادري هيوز او پلاؤډن سره معاصران وو د پادري هيوز د کليد
افغاني (مطبوعه لاهور ۱۸۷۲ء) انګريزي ترجمه له پلاؤډن په ۱۸۷۵ء کښې هم په لاهور
کښې چاپ شوې وه د راورټي د پښتو ژبې ګرامر وړومبي ايډيشن، په ۱۸۵۵ء او دويم په
۱۸۶۷ء کښې چاپ شوے وهٔ. د راورټي د ګلشن روه دويم ايډيشن او زما د وړاندې نې د
منظومو مندرجاتو د انګريزي ترجمې "سيليکشنز فرام دي پوئټري آو دي افغانز" چې
راورټي پخپله کړې ده نوے ايډيشن هم په ۱۸۶۷ء کښې او زوړ يا وړومبے ايډيشن هم په
۱۸۶۲ء کښې چاپ شوے وهٔ. ما څخه چې خوشبختانه د "سيليکشنز فرام دي پو ئټري آو
دي افغانز" (۱۸۶۷ء) کومه نسخه ده په هغې چا مسز ټامسن ته د پيشکش ليک د راورټي
په خپل لاس په ۲۴ نومبر ۱۸۸۸ء کښې شوے دے. له دېو کلونو مونږ د دريو واړو محققانو
د معاصرت په باره کښې په ځاے اندازه کولے شو پلاؤډن چې کوم وخت د کليد افغاني
ترجمه کوله او حاشيې نې پرې ليکلې نو نهٔ صرف د خټکو او د هغوي د خانانو سره ورته د
ليدلو ښې موقعې حاصلې وے بلکه په ياد شوي کار کښې ورسره د کومک کولو په حقله نې
چې د چا نامې اخستلې دي په هغو کښې يو د سر خواجه محمد خان د ټيري د جنوب مغربي
خټکو د نواب نامه هم ده. سره د دې نې کامګار په طور د خوشحال بابا د زوي ياد کړے
دے(ص ۳۳۹حاشيه) حال دا چې کامګار د خوشحال بابا کړوسے، د نامدار خان بن اشرف
خان هجري زوے وهٔ چې د پلار نه درې کاله اګاهو په ۱۱۶۵ هجري (۴۸/۱۷۴۹ء) کښې
حق رسيدلے وهٔ (د کامګار خټک په وفات قطعهٔ تاريخ د "ديوان کامګار" د پښتو برخې
اخري مخ ۱۹۳ چې سيد تسنيم الحق صاحب کاکا خيل پرې يوه ډيره مفصله او عالمانه
مقدمه او مفيدې حاشيې ليکلې دي) کهٔ دا سوال وشي چې شيدا سره د دې چې د خوشحال
بابا له کورنۍ وهٔ او دومره ګڼ ليکوال چې پکښې د راورټي او پلاؤډن غوندې محققان هم
شامل دي هم وائي چې کاظم خان شيدا د افضل خان بن اشرف خان هجري زوے وهٔ نو کهٔ وهٔ
نو د خوشحال بابا په کورنۍ کښې ئې د چا له اولاده فرض کړو؟نو ګزارش به لرم چې دا

سوال د هغو مشکلاتو چې ما ئې نښاندهي کړې ده نۀ خو ځواب کيدلے شي او نۀ د دغې
نښانـدهي به وجه زۀ ئې په ځواب کولو ماموريدلے شم خو کۀ ارومرو ځواب غوښتونکے وي
نو کۀ کاظم خان شيدا د نامدار خان زوے نشي کيدے ځکه چې د شيدا پلار لکه چې په وفات
لي ليکلې شوې تاريخي قطعه رابښيي په ۱۱۸۳ هجري کښې وفات شوے وۀ. او نامدار خان
لکه چې د کـامـګار خان د وفات قطعه رابښيي) په ۱۱۶۸ هجري (۵۵-۱۷۵۴) کښې حق
رسيدلے وۀ نو افضل خان لکه چې به ښاغلي لوستونکي وخيري په تاريخ مرصع کښې خپل
ور وروڼه هم ياد کړي دي. بيا د خوشحال خان بابا خو ګن زامن ،نمسي د افضل خان تروڼه د
رونو زامن وو. ګونديې په دوي کښې د چا له اولاده وۀ. د افضل خان د زوي اسدالله خان چې
تاريخ خورشيد جهان وغيره لې سعدالله خان بولي په زامنو کښې هم دا کتابونه د يوۀ نامه
افضل خان يادوي (تاريخ خورشيد جهان ص ۲۴۴ او تاريخ پشاور ص ۳۷۷) کۀ مونږ د دغه
افضل خان د زوي په باره کښې دا خبره چې هغه (اسدالله خان يا سعدالله خان) د وروڼو
عزيزنو سره د خراب سلوک خلاف غوريږ کوونکے هندوستان ته لاړ وۀ رد هم کړو ځکه
چې د نيکۀ خلاف دغه شان غوريږ شخو غير اغلب دے او کۀ هډو نۀ ئې رد کوو هم ځکه چې
نامـمکن خو نۀ دے او وايو چې کاظم خان شيدا د دغه افضل خان زوے وۀ نو د دغه مفروضې
خلاف هم ډير کـلک اعتراض کيدے شي. لکـه چې تـاسو بره ولوستل اسدالله‌خان پـه
۱۱۳۰ هجري کښې په تاريخ مرصع کښې د پلار افضل خان د بيان له رويه ئې د يوولسو کالو
ۀ او د دۀ د نمسي پـه ۱۱۸۱ هـجري کښـې د محمدي صاحبزاده دپاره خپل ديوان مرتب
کول او رالپيږل د عظيم انګريز شاعر کيټس د ۲۶ کالو په عمر کښې مړيدل او يو ضخيم او
ساهکـار ديوان او د خطونو مجموعه پريښودل د نظر د وړاندې اګر کۀ نۀ خو ناممکن او نۀ
ير اغلب دي خو په ۱۱۶۱ هجري د مير معصوم ثاني او ۱۱۶۲ هجري کښې د نواب محمد
لي خان په وفات او په ۱۱۶۵ هجري کښې د کټهير(روهيلکهنډ) د پښتنو په تزلزل تاريخي
طعې ليکل نـامـمکـناتو ته نږدې دي. کۀ مونږ دا فرض کړو چې د اسدالله‌خان وادۀ هم د
ښنځلسو کالو په عمر کښې شوے وۀ (لکه چې د مشر وررور محمد علي خان ئې په دغه عمر
کښې شوے وۀ (تـاريخ مرصع ۳۴۴ او ص۳۴۵/۱۵ ۳او ص ۴۱۷) او کـال پس ئې زوے هم وشو
و افـضل خان به (کۀ هغه ئې وړومبے زوے وۀ) په ۱۱۳۵ هجري کښې پيدا شوے وي. او کۀ
فضل خان هم د پينځلسو کالو په عمر کښې وادۀ کړے وي او کال پس ئې زوے هم شوے
ي نو په ۱۱۵۱ هجري کښې به پيدا وۀ.

لـه پـورتـنـي انتقاده او د شکونو له اظهاره دا مطلب نۀ دے چې ګنه موثق يم چې کاظم

3218-ب

خان شیدا د تاریخ مرصع د مؤلف افضل خان زوی نهٔ وهٔ او یوې نوې نتیجې وته د ټوپ وهلو یا د جدیدې نظریې پیش کولو شوق لرم بلکه مدعا مې صرف دا ده چې کهٔ هر څو د خوشحال بابا له کهالهٔ هم او لکه چې په دیوان کښې ئې درج له ځینو تاریخونو په ښهٔ شان اندازه کیدے شي، د تاریخ مرصع د مؤلف افضل خان د زامنو نمسیو معاصر هم وهٔ، یاد شوي مشکلاتو د نظر د وړاندې دا په وثوق نهٔ شو وئیلے چې د افضل خان بن اشرف خان هجرې زوی وهٔ او په دیوان کښې ئې د پلار په مرګ لیکلې شوې درج تاریخي قطعه د هغه افضل خان په مړینې وه.

تر څو چې د افضل خان د شخصیت او د پښتون په تاریخ کښې د هغهٔ د کردار او مقام تعلق دے نو اشارةً خو اګاهو هم په حقله ئې څهٔ لږه شان وینا شوې وه خو دلته به ئې څهٔ تفصیل او توضیح وکړو اګر کهٔ هغهٔ ځاے په ځاے په خپل کتاب کښې د قومیت وطنیت او پښتونیت د خیالاتو او جذباتو اظهار کوي او باید چې له نیکه ګمانه کار اخستونکي مونږ هم ووایو چې د پښتون دپاره ئې نیک نیت او ښې پیرزوئنې لرلې خو چې تر څو ئې د عملي کردار تعلق دے ورلږه ... د احترامه زما تر پامه ښاغلي لوستونکي به اندازه او رائے پخپله لګوئي او قائموي. هیڅ کله ... ستائنې وړ نهٔ دے. په تاریخ مرصع کښې د بیان شویو واقعاتو له رویه د اورنګزیب ... متوکے نه وروستو زمانه خصوصاً د محمد شاه رنګیلا عهد په هغو پښتنو او مشرانو ئې چې د دهلي تخت و تاج سره ئې تعلق وهٔ یو لوئے طنز دے. او کهٔ د افضل خان کردار ... کښې له نورو ... ت نه نو له هیچا کم هم د غندنې وړ نهٔ دے. داسې لیدهٔ شي چې هغه په هیڅ ... کښې هم د خپلو ذاتي مفادو نه خواه کهٔ د خانداني، قبیلوي ښیګړې او کهٔ د لویو نه لویو قومي مقاصدو دپاره ضروري هم وي تیریدونکے نهٔ دے پرته له دې هغه ځنې وخت د ډیرې مذمومې قبیلوي تنګ نظری اظهار هم په ډیر بد رنګ ډول کوي. اګر کهٔ پښتانهٔ تر اوسه هم لا د دغې بلا نه خلاص نهٔ دي خو د خوشحال بابا نمسے ترې چې د پښتنو مؤرخ هم دے کشکې مونږ خلاص لیدلے وے. مونږ دا هم محسوسوؤ چې یا خو افضل خان ته هم د خوشحال بابا انانیت په میراث کښې رسیدلے وهٔ او یا ئې په تکلف اختیاروي او ظاهروي ئ. خو په شخصیتونو کښې ئې د فرق له قبله له دواړو د دې صفت یا خاصې د اظهار په اثر کښې هم ډیر فرق دے. سر اولف کیرو د خوشحال بابا په حقله وینا کوونکے وائي چې

......هغه د پښتنو پښتون دے سره د ټولو کمزوریو اولافو (١) ئې داسې شاندار سړے دے چې بل ئې صرف په خوښولو مجبور نهٔ وي بلکه پرې د مئینیدلو هم او د هغهٔ پیژندل هغه کس لره چې پښتانهٔ پیژندل غواړي د پیژندنې ابتدا ده" (دي پټهانز ص ٢٤٦). [سره د کیرو د دغې مهربانئ چې د پښتنو په پښتون چې د پښتنو پیژندلو لره ئې پیژندل ضروري دي او د

هغ په واسطه ئې په ټول پښتون کړے وۀ چې څۀ ئې وئيلي دي له يوۀ مستعمر انګريز نۀ صرف غنيمت بلکه په مجموعي حيثيت ډير ښۀ دي. سر دوستان سلامت کہ تو خنجر آزمائی۔)د خينو هغو خبرو اظهار چې له نيکۀ ئې مونږ زغمو، څنې وخت پرې ومو سيږو او بل وخت ترې څخو د لطف اندوزی سره په زوروړتيا ئې محمولوو، له افضل خانه ئې وړلو ته خان نۀ شو سمولے د خپل مورخ دغه يو څو عيبونه ما په ګوته کړل او ګوندې ښاغلي لوستونکي ئې نور هم ووينې خو بيا هر حال له هنرونو هم خالي نۀ وۀ. د هغۀ د پښتون قام د علمي ادبي او ثقافتي پنګې ژغورنه، د زياتولو دپاره ئې مرسته او ورته بخښنه يو داسې عظيم احسان دے چې بايد پښتون قام ئې هيڅکله هير نۀ کړي. هغۀ ته کۀ ميراث کښې د نيکۀ ټول عظمت ونۀ رسيدلے شو خو څۀ خو به ورته رسيدو او يو ډير ښۀ ارخ ئې ضرور ترې په ورثه کښې بيا موندلے وۀ او هغه د لوی خان د پښتون علاوه ورلره د نور عظمت او شان و شوکت په حيث د يوۀ مهذب او متمدن، د علم او ثقافت لرونکي قام ليدو تلوسه او بې قراري وه لکه چې د افضل خان ترۀ ګوهر خان په سيرة نبوي ﷺ په ۱۲۰۰ هجري (۹-۱۷۰۸ء) له فارسی ترجمه کړې د خپل کتاب قلب السير په مقدمه کښې مونږ خبروي افضل خان د خوشحال خان خوارۀ وارۀ تصنيفات او تاليفات راغونډ کړل د هغوي د نقلونو کولو دپاره ئې کاتبان راوبلل او د يو يو اثر ئې برې څو څو نقلونه تيار کړل. او دغه څير ئې د راتلونکيو کولونو دپاره وژغورل. د تاريخ مرصع تاليف ئې خان له يوه لويه ذهني مرسته، ستره علمي او ادبي کارنامه او د پښتون د فکر او نظر پالنه او روزنه ده. او يو يادګار خدمت. اګر کۀ خان او سردار افضل خان د پښتون قام په تاريخ کښې څۀ د وياړ مقام خان له حاصل نۀ کړے شو د هغۀ د عمره سره ئې خاني سرداري هم ختمه شوه خو دغه خدمت د مرګ نه پس هم د عزته سره ژوندے وساتلو افضل خان د کليله دمنه د فارسی ترجمې چې د اکبر بادشاه وزير او مقرب مصاحب ابوالفضل د "عيار دانش" په نامه کړې وه د "علم خانۀ دانش" په نامه پښتو ژباړه هم کړې وه چې قلمي نسخه او له يوې بلې ئې پنسلي نقل د پيښور يونيورستی د پښتو اکاډمی په لائبريری کښې شته دے راوړتې د افضل خان د پښتو ژباړې څنې لړې برخې په "ګلشن روه" کښې هم شاملې کړې دي. علاوه د هغۀ د خپلو علمي او ادبي کاوشونو څنې کتابونه د هغۀ په نغوتې او ليوالونے او څنې ئې په پالنه هم ليکلې شوي وو لکه چې د "قلب السير" په مقدمه کښې د ګوهر خان له وينا ښکاري دغه مبارک کار ته هم افضل خان ليواله او جوړ کړے وۀ. الله جل شانه ئې دا او نور حلمتونه د مغفرت او لوے اجر سبب وګرځوي.

په زيارت کاکا صاحب کلي کښې د حضرت شيخ رحمکار صاحب رحمة الله عليه د

مـزار شـريف د احاطې لاندې ترې تقریباً پینځۀ ویشت گامه لرې يو قبر دے چې عام طور سره هم د افضل خان آرامگاه گڼل كيدے شي.

الـحـمـدللّـه والـمـنـة چې د دغه بناغلي پښتون مشر افضل خان دغه د قدر وړ مكمل كتـاب لـكه چې رارسيدلے دے (او مقابله شوې قلمي نسخې ئې سره د كيف و كم په كتابياتو كښې يادې شوې دي او په دغو معروضاتو كښې ورته هم اشاره شوې وه) د متن د تصحيح نه پس سره د نوټونو چې ضروري تفصيلات، توضيحات او انتقاد هم لري او ضرورت سره سمه د قـلمي نسخو د اختلافاتو نښاندهي هم كوي د الله جل شانه په ډير لوے فضل و كرم او توفيق د پښتـو اكـاډمـی او د اوسـنـي خورونكي په مرسته، په پښتو ، پښتونولى او په پښتون مينو د هغو نورو ښاغليو چې نامې به ئې يادې كړل شي په ښو پيرزوئينو او كومک گرانو لوستونكيو ته د وړاندې كولو نيک مرغي حاصلوم.

د كتـاب پـه هـغې برخه چې د خواجه نعمت الله هروي د فارسي تاليف ترجمه ده له ما آگاهو دوؤ ډيرو سترو او نامتو عالمانو اعني د خاركوف يونيورسټی پروفيسر برنارډ ډورن په انـگـريـزی كښـې (هـم په دغې ژبې كښې د ژباړلو نه پس) او د ډهاكې يونيورسټی پروفيسر ډاكـټـر سيـد امـام الدين صاحب هم نوټونه او حواشي ليكلي دي. زمونږ ټول كتاب په ۶۲۴ چاپو مخونو ختم شوے دے او خواجه نعمت الله د تاليف ترجمه په لاندينو مخونو مشتمله ده:

	د قلمي نسخو	د چاپې نسخې
(۱)	۱ تر ۱۶۸ ☆ (دا مخونه د پنجاب پبلک لائبریری لاهور د نسخې دي)	۱ تر ۱۹۸
(۲)	۴۲۲ تر ۴۳۳☆ + ۱۲۵۹ تر ۱۳۰۴ (دغه مخونه د پادري هيوز د نسخې دي. په دغو صفحو كښې ۱۳۰۵ نه تر ۱۴۳۸ د افضل خان خپل تاليف دے)	۱۹۸ تر ۵۱۴
(۳)	۴۴۹ تر ۴۶۶	۲۰۶ تر ۶۲۴

دغـسې د فارسي كتاب ترجمه د ټول كتاب د دريمې برخې نه لږه زياته ده خو زمونږ پـه كتـاب كښې چې د كومو نوټونو مقابلةً ډيرې زياتې صفحې نيولے دي هم په هغه برخه دي چې د فارسي كتاب د وړومبی برخې ترجمه ده. د پروفيسر ډورن تعليقات يا نوټونه زيات تر د هـغې نسخې چې دۀ ژباړلې ده له يوې بلې نسخې چې دے ئې د "لي" نومے چا صاحب نسخه بـولـي (او تـرې له اقتباساتو ښكارې چې د تاريخ خان جهاني مخزن افغاني كومه نسخه ده او د ډورن تـرجـمـه د مخزن افغاني له كومې نسخې شوې ده) يو تر بله په مقابلې مشتمل كيدلو نه علاوه د ترجمه كيدونكي كتاب د مضامينو د وضاحت دپاره نورو ډيرو كښو كتابونو ته حوالې او تـرې اقتبـاسـات هـم، د پښتـنـو د مختلفو نومونو او د دوئ د نوغي تحقيق په حقله يوه ډيره

وړ.ه مقـالـه هـم لري. د ډاکټر سید امام الدین صاحب حواشي هم د عبارت د مقابلې دپاره د تارېخ خان جهاني مخزن افغاني او مخزن افغاني د متعددو نسخو نه علاوه په نورو ګڼو کتابونو هـم مبني دي. ډاکټر صاحب په کتاب یوه مقدمه هم په انګریزی ژبه کښې لیکلې ده. حقیقت دا ـے چې د دواړو پوهانو مرستې د هغوي په علمیت او فضیلت دلالت کوي او ډیرې د قدر وړدې خو پروفیسر ډورن د جغرافیائي مقاماتو تحقیق او وضاحت ته هیڅ پام نۀ دے کړے او سید صـاحـب مـوصـوف د هـنـدوستان د مقاماتو د نښاندهی دپاره ډیر زیار کاږلے دے خو د کتاب پـه هـغـې بـرخـه کښـې راغلیو نومونو ته ئې چې د اسلام او د اسلام نه د وړومبی زمانې تارېخ سره تعلق لري ما سوا د یو څو توجه نۀ ده کړې . په هغې برخه چې د خواجه نعمت الله د کتب ژباړه ده ما د خپلو نوټونو دپاره له دواړو صاحبانو ډیره استفاده کړې ده او خان ئې ډیر زیات احسـان مـنـد ګـنم خو باوجود دواړو ته د پرله پسې رجوع او استفادې ما ورسره نۀ لږ خبه د اختلاف او پرې د انتقاد ضرورت هم محسوس او په ډیر ادب او احترام مې څرګند هم کړ. بیـا ډیـر مقامات او مسائل داسې وو چې په دیو کښې پرې یو هم د لیک ضرورت نۀ وو محـسـوس کـړے او زمـا له نقطۀ نظره پرې ضروري او لازمي وۀ. هرکله چې ما تر خپله وسه کوشـش کړے دے چې هر هغه پور چې ما له دیو صاحبانو (چې په دغه موضوع ورته د اولیت اورهـنـمـایی شرف حاصل دے) وړے دے ښکاره کړم نو هیله ده چې ښاغلي لوستونکي به په ښ شان اندازه وکړلے شي چې ما ترې استفاده ، پرې انحصار یا ورسره اختلاف او پرې انتقاد تـ کومـه حـده کـړے دے. یوه خبـره چـې زۀ په دغه ضمن کښې خاص طور سره ذکر کول غاړم دا ده چې اګر کۀ تارېخ مرصع په شمول د هغې برخې چې د خواجه نعمت الله له فارسی ژاړلې شوې ده بنیادي طور سره یو تاریخي کتاب دے خو لکه چې ښاغلي لوستونکي وخیري ډیرې خبـرې پکښې داسې هم راغلې دي خصوصاً په هغه برخه کښې چې اصل ئې فارسي ده چې دیـنـي او مذهبي عقائدو او نظریاتو سره تړون لري او په دغو خبرو کښې ځینو نکته چیني اوانتقـاد او ځینو زیات وضاحت غوښتلو او هر کله چې په داسې موضوعاتو سطحي بحث په خاے د رنـړولـو نـې شخړوي نو ما (دې دپاره هم چې مونږ د ادب په مقصدي او نظریاتي دور کښې وسـو او بـایـد چې هر وګړي ته خپل عقائد او نظریات کۀ په اخلاص ئې لري خواږۀ او پرې ګران وي) په داسې موضوعاتو له خپله انده په نوټونو کښې مفصل بحثونه کړي دي. او دخپلو اعني اسلامي عقائدو او نظریاتو د حقانیت، راستی او درستی د ثابتولو مې خپل وس او استـعـداد سـره سـمـه مرسته کړې او زیار کاږلے دے. او دغـسې مې د هغو واقعاتو چې خواجه نعـمـت الله د تاریخ افاغنه په ضمن کښې بیان کړي دي خو د تاریخ اسلام د هغه دور برخه ده

چې د حضرت رسالت مآب ﷺ او صحابه کرام رضوان الله تعالي عليهم اجمعين بعضو مبارکو حالاتو او زرينو کارنامو سره تعلق لري په وضاحت کښې هم له تفصيله کار اخستې دے هيله ده چې الله تبارک و تعالي په خپل فضل و کرم د حضرت رسالت مآب، د خپل لـ تولو محبوب او مقبول بنده او په درجه او مرتبه کښې اولين او وخت او زمانه کښې آخرين نبي او رسول خاتم النبيين، سيد المرسلين، رحمة للعلمين حضرت محمد مصطفي احمـ مجتبي صلي الله عليه و علي اله و ازواجه و اصحابه و سلم په خاطر د ليکونکي ، د عمل لـ رويه د خپل دغه بالکل نيستمند او شرمسار بنده او د هغه آقائے نامدار ﷺ د هغو ﷺ مبارکو د اهل اطهارؓ او اصحاب کبارؓ د چاکرانو د ادنيٰ ترين چاکرد آخرت توبنه او مغفرت سبب وګرځوي الله جل شانهٔ دې د اميد او رجا دغه نهال په خپل بارګاه عالي کښې د قبوليت ، د خپل بخشش، عطا او عنايت په اثمارو پُره ونه کړي. آمين

په هغو بحثونو کښې چې عقائد او نظرياتو سره تړون لري لکه چې بناغلي لوستونکې به وخيري، د اهل السنت والجماعت د مذهب چې د ليکونکي په نزد هم په اصول او هم پـ فروع کښې د دين حق اسلام د تعليماتو صحيح نمائندګي کوي په مرسته کښې په برصغيـ کښې د مشائخ ديوبند د مکتبهٔ فکر مطابق نهٔ صرف په اساسي او بنيادي خبرو د خيال اظها شوے دے بلکې په نورو خبرو کښې هم د دغه مکتبې د فکر د پيروي کوشش شوے دے. ا په دغه سلسله کښې د قرآني آياتونو د ترجمې کولو دپاره د حضرت شاه رفيع الدين صاحب شيخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب او حضرت مولانا اشرف علي صاحـ رحمهم الله تعالي په اردو ترجمو نهٔ صرف انحصار شوے بلکه لفظاً ئې په پښتو محاوره کښې د راوستلو خاص خيال ساتلے او زيار کاږلے شوے دے او د مطالبو په تشريح کښې ئې هم دغو حضراتو او د دوئ په شان د نورو صاحبانو د مسلک پيروي ضروري ګڼلې شوې ده اګر کهٔ په دغه سلسله کښې د مسلمانانو د يوې بلې فرقې اعني شيعه او د ځنو غير مسلـ مثلاً نصاريٰ او هندوانو او قاديانيانو (صرف د لاهوري ځانګې) ترجمو، تفسيرونو، کتابونو ا مقالو ته هم تري د اقتباساتو يا د مطلب ئې بيانولو په وخت حوالې شوي دي خو انتهائې کوشش شوے دے چې د اسلامي تعليماتو د تشريح خواه کهٔ د آيات يا د اخبارو آثار په ذريعـ وي په ضمن کښې ترې څهٔ داسې خبره په طور د قبوليت نقل نهٔ کړے شي چې هغه د ياد شوو صلحاؤ چې ما ئې پيروي په ځان لازمه کړې ده د مسلک خلاف وي. تر څو چې عقائدو، د اسلام د بنيادي او اساسي تعليماتو تعلق دے نو د اختلاف خو الحمدلله والمـ امکان لکه چې نشته نهٔ وهٔ خو کهٔ چرته په نورو خبرو کښې ځاے نيم شوے وي نو هغه به زما

ٙوشش او امید زما د ناپوهي او بې علمی له قبله وي او په نښاندهی کښې به ئې زهٔ د درستی باره ان شاء الله تعالیٰ تیار یم.

ځـنـې تشـریـح غـوښتونکې خبرې چې له نوتونو پاتې وے یا پرې ما ګوښې وینا کول وره ګڼل هغه ما د دوؤ عنوانو "ځنې نور نوټونه" او (۲) " هم د تیر عنوان په لړ کښې" لاندې ا پـه پیـنـځـو ضـمیمو کښې راوستلې د کتاب په متن کښې داسې ډیر عربي، فارسي، ترکي، ننـدي او هـم پښتـو الـفـاظ پـکـارولـي شـوي دي چـې زمـا تر پامه عام لوستونکي پري نه وهٔ بوهیـدونـکـي نو د ځینو خو مې په نوټونو کښې تشریح وکړه او چې کوم پاتې شوي وو نو د هغو مې د کتاب په پائې کښې د حروف تهجي په ترتیب د راټولولو نه پس وضاحت وکړو د کتـاب هـم دغـه بـرخـه ئـې پـیـنـځـمه ضـمیمه ده. د کتاب دوه اندکسونه یو د شخصي او بل د ـغرافیـائـي نومونو چې په متن کښې ئې راغلي دي ګوښې مې تیار کړل او ورسره مې پس له ـمیمو ولګول.

په څو نورو خبرو د دغو معروضاتو د ختمولو نه اګاهو دا وضاحت کول هم ضروري ګـنـم چې د عرفي کوم شعر د مقدمې دپاسه لیکلے شوے دے ترې دې دا مطلب هیڅکله وا نهٔ حسـاب شـي چـې ګوندې زهٔ قانع یم او دا مې وګڼل چې خپل منزل ته ورسیـدم. لا خو په تاریخ ـرصـع د کار منزل هم کهٔ څوک غواړي نور هم لرې ښکاریدلے شي خو زمونږ د علمي ادبي و ثـقـافتـي کـار تـر دهٔ رسیدل خو هیله یو پل اخستل دي نه په دهٔ پوره کیدونکے دے او نهٔ ئې موږ تر ځنګه ایساریدلے شو د دغه کار منزل او مرام ډیر لرے دے چې لار ئې مقام او لاروے ـې قیـام نـهٔ پـيـژنـي او د حـصـول راز ئـې پـه تـل تر تله مسلسل تګ کښې کهٔ په پلونو کهٔ په خـپـوسـو وي مـضـمر دے نو خدائے پاک دې زمونږ عزم او همت د مرزا غالب د دغه شعر عملي نمونه کړي.

بہ وادیٔ کہ دراں خضر را عصا خفت است — بہ سینہ می سپرم رہ اگر چہ پا خفت است

د کتـاب پـه آخـر کـښـې پـکـښـې د لیک او چـاپ د غلطیو او د درستیو ئې فهرست لـګـولـے شـوے دے. غوره بلکې ضروري به وي چې د کتاب د لوستلو، شروع کولو نه اګاهو ښاغلي لوستونکي د فهرست مطابق د غلطیو درستي وکړي. اګر کهٔ یو عام دود جاري یا فیشن جوړ شوے دے چې د هر چا تر دې چې د مصنف یا مؤلف خپلې غلطي یا کوتاهي هم په کاتب ورتپـل کیږي نو زهٔ خپله اخلاقي وظیفه ګنم چې دلته دا وضاحت او اعتراف وکړم چې زما او د کـاتـب ښـاغـلـي مولٰینا محمد اکرم خان صاحب مومند په املا کښې ډیر فرق دے او تر یوهٔ حده زما د لاسه د پریشانیدلو په وجه ئې علاوه له عامو او معمولي غلطیو (چې له هره کاتبه ئې

د بشـریـت په تقاضا واقع کیدل ممکن دي او تري کیږي) څهٔ نوري غلطی هم کړې دي. خو
دا بـه ډیـره بې انصافي او له حقیقته ګریز وي چې د هغو ټولو غلطیو دپاره چې په کتاب کښې
لیـدلـې شـي ستـائیلي مولانا وګرمولې شي. د غلطیو یوه لویه ګنه د خراب طباعت په وجه هم
واقـع شوې ده. اګرکهٔ د پریس سنګساز جناب بختیار احمد صاحب دهلوي اوس پښاوري د
پښتـو پـه یـوهٔ توري هم نهٔ پوهیږي کمال او محنت ئې د ستائنې وړ دے. او لکه چې باید مونږ
ئـې مـمنون هم یو خو څهٔ به ښهٔ وو چې سره د خپله نوره کماله او همته پښتو ئې هم زده کړې
او پـرې پـوه شـوے وے. بیا ډیرې غلطی زما د خپلې بې احتیاطی، معذورتیا او هم د نورو ګڼ
مصروفیتونو له قبله شوي دي. کهٔ مې د کاپیو او پلیټونو لوستلو ته څخو زیاته توجه کړې وے
نـو سکه ډیرې غلطی له میانه وتلې وے. کهٔ زهٔ د محترم کاتب صاحب په حقله دا ونهٔ وایم چې
هـغـوي یـوه ډیـره ګـرانـه مسوده هم د متن بیا خاص طور سره زما د نوټونوهم چې پکښې ډې
خـایه په کرښو کښې کرښې وے او هم ترې پاتي مواد چرته بره کښته چرته کین سم لوري ب
څـنـډو لیکلي شوي وو په ډیره حوصله، محنت او روڼ تندي لیکلې ده نو ډیر به ګرم یم. زهٔ
هـغـوي د مـحـنـت ستائنه او دپاره ئې شکریه ادا کوم. د ناشر صاحب کله ګرما ګرمي او کله
یـخـې یـخـې زویـې کـلـه په کار کښې مکرر غیر ضروري وړد تعطل او کله بیړې هم په دغ
غـلـطیو کښې ډیره اضافه کړې ده. په هر حال زهٔ له ښاغلیو لوستونکیو په ما د دغې باور کوا
هیله لرم چې زهٔ له بل هر چا خپل ځان د دغو غلطیو دپاره ملامت ګڼم.

زهٔ د الله تبـارک و تـعـالـي د شکر ادا کولو نه پس چې ئې د دغه کار تر سره د رسول
تـوفیـق او تـوان راوبخښلو د خپلو ګرانو ملګرو او دوستانو ښاغلیو مولٰینا فضل ودود صاحب
خلیل، همیش ګل خلیل، پروفیسر محمد اعظم خان مهمندزي ایم۔اے شکریه ادا کوم چې
کـاپیـو کښـې د کتابت د غلطیو درستي ئې کړې ده. د ښاغلیو طاهر بخاري منډن، صاحبزا
حبیـب الـرحـمٰن قلندر مومند ایم۔اے ،ایل ایل بي ایډوکیټ پېښور، جلال الدین اکبرجي ب
اے ، ایـل ایـل بـي ایډوکیټ پېښور، محمد نواز خان طائر یوسفزئي ایم۔اے ، صوبه دار پردل
خـان خـټـک ایـم۔اے هـم ډیر ممنون یم چې د دغه کتاب د تیاری په دوران کښې ئې د خپ
کتـابـونـو او نقشو او د خپلو مشورو په ذریعه زما ډیره مرسته او حوصله افزائي وکړه. ښاغل
پیـر سیـد مـعـصـوم شاه خټک بي اے ایل ایل بي ایډوکیټ پېښور، پروفیسر سید میاں تقوي
الـحـق کـاکا خیل خټک ایم اے، پروفیسر سید میا ں مـحـمـد یوسف کاکا خیل خټـک ای
ایـس سـي ، سیـد سیف الـرحمان صاحب سیف او سید میاں سـنـاء الـدین صاحب کاکا خی
خټک هم زما د شکریې وړ دي چې د کتاب د ځینو موضوعاتو په حقله هغوي سره پس له

بـحثه پـرې مې نور غور او فکر وکړو او څنې ضروري خبرې مې ترې معلومې کړلې. د خپل ګـران دوسـت د شيـدو د ښاغلي عبدالسلام خان خټـک احسان مند يم چې د تاريخ مرصع د خپـلـې نسخې د ضرورت د ځايونو د کتلو ئې رالره بيا موقع راکړه. هم له دې رويه زهٔ د هوتي د ښاغلي نوابزاده کرنل محمد امير خان د خپلو دوستانو ښاغليو سيد علي شاه بي اے، ايل ايل بـي ايډوکيټ مردان او خان بهادر خان ايم اے، ايل ايل بي ايډوکيټ پيښور په ذريعه هم مننه کوم. ارمان چې د پښتو د نوي نهضت د ښبان وچتونکيو، د پښتو په نوي کول کښې د علم او ادب د شـمـعې بلونکيو او روښانه ساتونکيو او هم ئې پخپله پتنګانو څنې يو، هغه ښاغلے عالم او فـاضـل چې د دغـه خـدمت محرک وهٔ اعني مولانا عبدالقادر نن مونږ کښې نشته، هغه د کتـاب د تيـارى پـه دوران کښـې چې پـه پښتـو ژبـې او ادب د تقريرونو کولو دپاره مشرقي بـنـګال ته تللے وهٔ په ۲۲/اکتوبر ۱۹۶۹ء په ډهاکه کښې د زړهٔ له سکتې حق ورسيد او نعش ئـې پـه الـوتـکـه کښې پيښور ته راوړلے او دلته وسپارلے شو خو مونږ ته ئې د خواجه حافظ په الفاظو کښې دا نهٔ هيريدونکے پيغام پريښود:.

گر بہ تیغ اجل خیمہ برکنم ورنہ   *رمیدان از در دولت نہ رسم وراہ من است*

الله جـل شـانـه دې ئـې خپـل مـغفرت او رحمت نصيب کړي. د نورو ښاغليو دې ډير عـمـرونـه نـصيـب کا او ورلره دې د نورو ښو توفيق او توان او په دواړو جهانو کښې ډير اجر ورکړي. او هـم له هغه لويه ذاته خواست کوم چې زما دا زيار دې د لوستونکيو، زمونږ د ټول اولس او هم زما په ښه راولي او زما غلطي دې وبخښي او اصلاح دې ئې وکړي. آمين

دوست محمـــد کامـــل

نشتر آباد ـ پيښور ښهر

۱/رجب ۱۳۹۴هجري مطابق ۴/۱اګست ۱۹۷۴ء

کتابیات

په مقدمه کښې مذکور صرف هغه کتابونه په دغه فهرست کښې یاد شوي دي چې ورته په نوټونو کښې هم حواله شوې ده.

(۱) متن ـ د تاریخ مرصع قلمي نسخې او د تاریخ خان جهاني مخزن افغاني ځنې قلمي او چاپ نسخې چې د کتاب متن پرې بنا لري.

د "دي پنجاب پبلک لائبریري لاهور" د قلمي نسخې فوټو سټیټ ـ کاتب غلام نبي زوے د منشي محي الدین ـ تاریخ کتابت ۲۵ جنوري ۱۸۶۷ ء.

دا نسخه بشپړه ده اعني له سره تر پائې مواد لري خو د سوات نامې یوه برخه ئې حذف کړې ده. تذکرة الاولیا ئې هم اګر که له اوله تر آخره رسولې ده خو لکه چې په له متعلقو نوټونو جوت وي بشپړه نه ده.

۲ـ په "برټش میوزیم لنډن" کښې د قسیس پادري هیوز (د ي ریورنډ ټي ـ پي ـ هیوز) د قلمي نسخې مائیکرو فلم ـ کاتب مولوي محمد حسن ـ د کتابت تاریخ ۲۸ اپریل ۱۸۸۵ ء.

دا نسخه هم بشپړه اعني له سره تر پائې ده خو لکه چې له مائیکرو فلمه ئې قیاسولے شو ۱۲۴ تر ۱۴۷ صفحې نه لري. دغه مخونه زمونږ د وړومبی نسخې ۴۸ تر ۵۳ صفحې سره سم دي. د پادري هیوز د نسخې د ۱۳۳ مخ الفاظ "او تمامه غلبه او ډیر قوت ئې پیدا کړو" نه پس ص ۱۲۸ په دیو الفاظو شروع کیږي: "چې ګماشته د سلطان بهلول وو" بیا د خان جهان لودي له شاهجهانه د مخالفت حال هم پکښې تقریباً د نشت برابر دے سوات نامه هم لکه د وړومبی نسخې نیمګړې لري.

۳ـ د مرحوم لفټیننټ کرنل نواب سر محمد اکبر خان صاحب د هوتي (ضلع مردان) د کتب خانې قلمي نسخه. د کاتب د نامې او د کتابت د تاریخ په حقله لیک څخو مشتبه لیدۀ شو غالبا چې ملا اعظم یا عظیم په ۱۲۵۹ هجري کښې لیکلے وۀ (متاسفانه ما د لیدلو په وخت ونۀ لیکل اوس ئې له حافظې لیکم). نسخه مکمله وه خو د خوشحال بابا د بیاض د هغې برخې چې د هغۀ او د هغۀ د ملګرو ایمل خان او دریا خان د مغلو خلاف د جنګونو په باب ده. ځنې عبارتونه کاتب په څنډو لیکلي او د جلد بندی دپاره په تقطیع کښې وهلي شوي دي.

۴ـ د بناغلي عبدالسلام خان خټک د شیدو (ضلع پیښور) قلمي نسخه چې په ۱۳۲۱ هجري کښې لکه چې له لاندینو عبارتونو بریښي "محفوظ" نومے کاتب لیکلې وه:

"بدست عبودیت کیش محفوظ دپاره ساتنے د زړۀ د میاں صاحب مصباح الدین نقل شو." او د کاتب په مینځ کښې دا لیکونه هم شته: "کاتب الحروف سبحان الله بمطالعه محمد

وسف زيارت كاكا صاحب مولوي عبدالديان مقابله شد الراقم محفوظ" او "عبدالحليم قابله شد". نسخه نيمگړې ده. له شروع تر هغه ځايه رسي چې شهباز خان له ځينيو ختټکو د ېل پلار د مرګ بدل اخلي او بيا ني بخښي. وګورئ د خپل کتاب ص۲۲۸ (د قلمي سخې) او ص ۲٦٧ (د چاپ کتاب.).

د "انډيا آفس لائبريري لنډن" د قلمي نسخې نقل (دوه جلده) نيمګړې ده. د وشحال بابا د قرانونو د ذکر (وګورئ د خپل کتاب ص ۲۳۲ (د قلمي نسخې) او ن ۲۷۲ (د چاپ کتاب) نه شروع کيږي او د هغهٔ په وفات د اشرف خان هجري په ليکلې رثيه ختميږي. (وګورئ د خپل کتاب ص ۴۲۰ تر ۴۲۲ (د قلمي نسخې) او ص ۵۱۱ تر ۵۱۱ (د چاپ نسخې) سوات نامه نهٔ لري او د کتاب هغه برخه چې پکښې مؤلف خپل ځنې الات بيانوي. اګر کهٔ ټول ضروري واقعات لري خو د اصل عبارت خلاصه ده.

د ډاکټر سيد انوارالحق صاحب ختټک بياض چې د تاريخ مرصع د هغې قلمي نخې چې د سرائے اکوړه (ضلع پېښور) مرحوم خان بهادر محمد زمان خان صاحب ختټک ره وه ځنې اهم اقتباسات چې مکمله سوات نامه پکښې شامله ده، لري.

زمونږ د کار شروع کولو په وخت د اولنی نسخې فوټوسټيټ د نظر د وړاندې وهٔ او دم دغه مونږ اساس وګرځولو او بيا مو نورو نسخو سره مقابله کړو له بنهٔ مرغه چې کوم ايونه په ځنو نسخو کښې نهٔ وو د هغو کمے له نورو نسخو پوره کړلے شو داسې بريښې ي په اصل يا بنيادي نسخه کښې هم يو دوه ځايه څو کربنې عبارت (په هغه برخه کښې چې خزن افغاني ترجمه ده) پاتې شوے دے دغسې کمي په متن کښې مونږ له فارسي نسخو پوره کړې ده. خو د تاريخ مرصع ځنې هغه ځايونه هم ناقص او مشتبه دي چې له مخزن افغاني تلق نهٔ لري نو ديو وته مونږ په نوټونو کښې حواله کړې ده او کوشش مو کړے دے چې پوره ا صحيح مضمون د بناغليو لوستونکو تر نظره راشي. بره يادو شوو نسخو ته مو په نوټونو ښې داسې حواله کړې ده.

ن ا	۲	ن ب
ن ج	۴	ن د
ن هـ	٦	ن و

فرسي نسخې:

(۱) د تاريخ خان جهاني مخزن افغاني نسخه د پېښور يونيورستي د پښتو اکيډمي =ن ز

(۲) تاريخ خان جهاني(دوه جلده) سره د انګريزي مقدمې او انډکس او فارسي حواشي له

جناب ډاکټر مولوي امام الدين صاحب د ډهاکې چاپ = ن ح

(۳) "هسټري آؤ دي افغانز" د مخزن افغاني انګريزي ترجمه سره د تعليقاتو له پروفيسر برناډ ډورن = ډورن

(۴) د پيښور ميوزيم د لائبريري "مجموعه تاريخ افغان" (فارسي) دا کتاب د مخزن افغاني د معتدبه حصې، او له څنو نورو کتابونو لکه اسرار الافغان او تذکرة الابرار والاشرار د اقتباساتو مجموعه ده. خو د مخزن افغاني د اجزاؤ يا مضامينو ترتيب څخو ګډوډ دے. له صفحه ۳۶۲ معلوميږي چې د کتاب جامع د پلوسي پيران وسيدونکے محمد حنيف دے. پلوسي پيران د پيښور ضلعې پيښور تحصيل کښې د خليلو مشهور کلے دے. دې کتاب ته شاذ رجوع او حواله شوې ده.

(ب) چې نوټونه پرې بنا لري:

د دغه کتاب اعني تاريخ مرصع د چاپي نسخې د نوټونو ليکلو دپاره چې له کومو کتابونو استفاده او اخذ شوے دے په هغو کښې د قرآن مجيد، د احاديث نبوي ﷺ په څلورو جلدونو کښې د يوې مجموعې "ترجمان السنة" نوم ئې مرتبه، مترجمه او مشرحه د مولٰينا سيد بدر عالم صاحب ميرټهي ثم مدني رحمة الله عليه د اول او څلورم جلد او د يهود او نصاريٰ ؤ د مقدس کتاب عهد نامهٔ عتيق او د نصاريٰ ؤ د مقدس کتاب عهد نامهٔ جديد (چې انګريزی کښې په ترتيب اولډ او نيو ټسټامنټ او دواړه په ګډه بائبل بلل شي) او د يهودو د يو بل مذهبي کتاب تالمود نه علاوه چې کوم کتابونه دي د هغو فهرست لاندې ليکل شي. خو بنائي چې اول د هغو ترجمو، تفسيرونو او لغاتو ذکر وشي چې د قرآن عظيم د مطالبو د وضاحت دپاره پرې انحصار شوے دے او د يهودو او نصاريٰ ؤ د يادو شوؤ کتابونو نه د اقتباساتو ورته د حوالې او پرې د انتقاد دپاره پکارولے شوي دي.

(ا) د قرآن حکيم متعلق:

(۱) اردو ترجمې (ا) د حضرت شاه رفيع الدين صاحب رحمة الله عليه (ب) د حضرت مولٰينا اشرف عليؒ صاحب تهانوي رحمة الله عليه. ورسره متن هم شته.

(۲) اردو ترجمه د شيخ الهند حضرت مولٰينا محمود الحسن صاحب رحمة الله عليه چې موصوف پرې تر سوره نسآء او ورپسې پرې تراخره شيخ الاسلام حضرت مولٰينا شبير احمد صاحب عثماني رحمة الله عليه فوائد ليکلي دي، ورسره متن هم شته.

(۳) ترجمان القرآن جلد ۲. پوره کتاب په دؤو جلدو کښې له مولٰينا ابوالکلام آزاد صاحب رحمة الله عليه اردو ترجمه او تفسيري توضيحات او مقالات لري.

(۱) مقبول ترجمه او حاشیه "قرآن مجید مترجمه مقبول احمد" په تصحیح او ملاحظه د مولٰینا سید نجم الحسن صاحب او مولٰینا سید ظهور حسین له شپاړسمې تر شلمې پارې. متن سره د ترجمې او حواشي چې په اردو کښې له شیعه نقطهٔ نظره کړلے او لیکلے شوي دي.

(۱) بیان القرآن جلد ۲. (مکمل کتاب اردو ترجمه او تفسیر درې جلده) له مولوي محمد علي صاحب قادیاني، د قادیانانو د لاهوري څانګې باني او وړومبي امیر ئ. ورسره متن هم شته

( ) انګریزي ترجمه او تفسیر له مولوي محمد علي صاحب مذکور

(۵) انوار القرآن. د قرآن حکیم د دیرشمې پارې اردو ترجمه او تفسیر له ډاکټر بشارت احمد صاحب قادیاني (لاهوري څانګه) ورسره متن هم شته.

(۱) "دي السترئیس قرآن" د قرآن حکیم انګریزي ترجمه له علامه عبدالله یوسف علي مرحوم

(۱) "دي ګلورئیس قرآن" د قرآن حکیم انګریزي ترجمه له محمد مارمیډیوک پکتهال مرحوم

(۱۰) " دي قرآن" د قرآن حکیم انګریزي ترجمه او ځنې حواشي له پادري جارج سیل.

(۱) "دي قرآن انټرپریټډ" د قرآن حکیم انګریزي ترجمه له آرتهر. جے. آربري.

(۱۱) لغات القرآن شپږ جلده چې د قرآني الفاظو معنې او تشریح اردو کښې کوي. وومبي څلور جلده، له مولانا عبدالرشید صاحب نعماني او وروستي دوه جلده له مولٰینا سید عدالدائم صاحب جلالي. جلد ۱، ۳، ۴ و ۲

(ب) د بائبل او تالمود متعلق:

( ) د بائبل انګریزي ترجمه آتهورائیزډ ورژن چې د انګلستان د بادشاه جیمز اول (۱۶۲۵-۱۶۰۳ ء) د سرپرستی لاندې شوې وه.

(۱) د عهدنامهٔ جدید انګریزي ترجمه (له یوناني) سره د نوټونو له یهودي عالم ډاکټر هیوجے. شونفیلډ.

(۲) کتاب مقدس. پرانا اور نیا عهدنامه (یعني زړه او نوې عهدنامه، عهدنامه عتیق او عهدنامه جدید) اردو ترجمه. برټش اینډ فارن بائبل سوسائټي لاهور ۱۹۱۸ ء

(۲) تالمود. انګریزي ترجمه له ایچ. پولانو

(۱) دي ویسټ منستهر ډکشنري آؤ دي بائبل له ډاکټر جان. ډي. ډیوس په نظرثاني د ډکټر هنري سنلډ ګیهمین.

(۷) نیلسنز کانکارډینس ټو دي بائبل.

نور کتابونه

عربي:

(۱) اُسُدُ الغابه في معرفة الصحابه (۵ جلده) له ابن الاثیر جزريؒ جلد ۴.

(۲) اِصابه في تمیز الصحابه (۸ جلده) له حضرت حافظ ابن حجر العسقلاني رحمة الله علیه جلد ۵.

(۳) استیعاب في معرفة الاصحاب (۲ جلده) له حافظ ابن عبدالبر رحمة الله علیه. جلد ۱

(۴) تاریخ طبري د محمد بن جریرالطبريؒ اردو ترجمه جلد اول له مولٰینا محمد عبدالشکور صاحب.

(۵) تاریخ طبري (برخه د عراق او عجم د فتوحاتو) فارسي ترجمه له ابوعلي محمد بلنعمي.

(۶) د تاریخ ابن خلدون (تالیف د عبدالرحمٰن بن خلدون) د اردو ترجمې (چې حکیم احمد حسین صاحب سره د خپلو نوټونو په دیارلسو جلدونو کښې کړې ده) اول، دویم او پینځم جلد.

(۷) سیرت ابن هشام. اردو ترجمه په دوو جلدونو کښې له مولٰینا عبدالجلیل صاحب صدیقي او مولانا غلام رسول صاحب مهر مرحوم.

(۸) سیرة ابن هشام انګریزي ترجمه له اے ګلوم.

(۹) طبقات ابن سعد د محمد بن سعد (اردو ترجمه له مولوي عبدالله العمادي صاحب ۸جلده). جلد ۱

(۱۰) "فتوح الشام" د ابو اسمٰعیل محمد بن عبدالله الازدي. اردو ترجمه له مولٰینا عبدالرزاق صاحب ملیح آبادي.

(۱۱) "فتوح الشام" د ابو عبدالله محمد بن عمر واقدي. اردو ترجمه له حکیم شبیر احمد صاحب انصاري.

(۱۲) "ابوبکر" له محمد حسین هیکل. اردو ترجمه له شیخ محمد احمد صاحب پاني پتي.

(۱۳) "عبقریة خالد" له عباس محمود العقاد. اردو ترجمه له شیخ محمد احمد صاحب پاني پتي.

(۱۴) "خالد سیف الله" له ابوزید شلبي. اردو ترجمه له شیخ محمد احمد صاحب پاني پتي.

(۱۵) "الحسین" له عمر ابوالنصر اردو ترجمه له شیخ محمد احمد صاحب پاني پتي

(۱۶) "الحسین" له علي جلال. اردو ترجمه (دوه جلده) له محمد ایوب صاحب عثماني

(۱۰) نزهة الخواطر و بهيجة النواظر تاليف د سيد عبدالحئ صاحب بريلوي. اردو ترجمه د ابو يحيي امام خان صاحب نوشهروي. جلد۳.

(۱۱) منتخب اللغات عربي، فارسي د عبدالرشيد الحسيني صاحب.

(۱۲) مصباح اللغات عربي اردو د ابوالفضل عبدالحفيظ بلياوي صاحب.

پښتو.

(۱) ديوان د خوشحال خان خټک.

(۲) دستارنامه (نثر) د خوشحال خان خټک.

(۳) فراق نامه (نظم) قلمي د خوشحال خان خټک.

(۴) ديوان د حضرت عبدالرحمٰن بابا مومند.

(۵) ديوان د عبدالحميد مومند.

(۶) ديوان د اشرف خان هجري خټک. مقدمه، تصحيح، ترتيب او حل لغات له ښاغلي هميش ګل خليل.

(۷) ديوان د عبدالقادر خان خټک. مقدمه، تصحيح، ترتيب او حل لغات له ښاغلي هميش ګل خليل.

(۸) ديوان د کاظم خان شيدا خټک. مقدمه، تصحيح، ترتيب او حل لغات له ښاغلي هميش ګل خليل.

(۹) ديوان د مرزا انصاري (اورمړ). مقدمه، تصحيح، ترتيب او حل لغات له ښاغلي هميش ګل خليل.

(۱۰) خيرالبيان د بايزيد انصاري اورمړ مقدمه، تصحيح او تحشيه له مولٰنا عبدالقدوس صاحب قاسمي. دا کتاب بايزيد په څلورو ژبو عربي، پښتو او فارسي کښې ليکلے وۀ. خو په کومه نسخه چې چاپ کتاب بنا لري په هغې کښې هندي برخه ډيره لږه او زياته برخه ئې پښتو ده.

(۱۱) مخزن د اخون درويزه صاحب. تصحيح او تحشيه له مولانا فضل ودود صاحب خليل سره د مقدمې د مياں سيد تقويم الحق صاحب کاکا خيل خټک.

(۱۲) ګلشن روه. د پښتو نثر او نظم انتخاب د ميجر ايچ. جي. راورټي.

(۱۳) کليد افغاني د پښتو نثر او نظم انتخاب د پادري ټي. پي. هيوز

(۱۴) د کليد افغاني انګريزي ترجمه له ټريور چچلے پلاؤډن.

(۱۵) "پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې" له مياں بهادر شاه ظفر کاکا خيل خټک.

ترکي:

بابرنامه د مغل ظهیر الدین بابر بادشاه پخپله خپل لیکلې حالات

(۱) فارسي ترجمه د امیر الامرا عبدالرحیم خان خانان.

(۲) انګریزي ترجمه او نوټونه د ارسکن او لائیډن.

(۳) انګریزي ترجمه او تلخیص له لفټیننټ کرنل ایف. جے ټالبټ.

(۴) اردو ترجمه له میرزا نصیرالدین حیدر صاحب.

فارسي:

علاوه له ن ز، ن ح، ډورن او ن ط:

(۱) طبقات ناصري (دوه جلده) د قاضي منهاج سراج تصحیح او تعلیقات له ښاغلي عبدالحئ صاحب حبیبي. جلد ۱

(۲) طبقات ناصري انګریزي ترجمه (دوه جلده) له میجر ایچ. جي. راورټي.

(۳) تاریخ شیر شاهي د عباس سرواني. مقابله، تصحیح او تحشیه له پروفیسر ډاکټر امام الدین صاحب.

(۵) تاریخ شیر شاهي د عباس سرواني. اردو ترجمه له مظهر علي خان "ولا" سره د مقدمې د ډاکټر سید معین الحق صاحب.

(٦) تذکره الواقعات د جوهر آفتابچي (همایون بادشاه حالات) اردو ترجمه له احمد الدین احمد صاحب.

(۷) همایون نامه د ګلبدن بیګم لُور د بابر بادشاه. فارسي متن او ورسره د رشید اختر صاحب ندوي اردو ترجمه.

(۸) آئین اکبري د ابوالفضل درې جلده. جلد ۲.

(۹) منتخب التواریخ د مُلا عبدالقادر بدایوني.

(ا) د مکمل کتاب ترجمه په یو جلد کښې له محمود احمد صاحب فاروقي.

(ب) انګریزي ترجمه او حواشي جلد ۱ له جارج. ایس. اے. رینکنګ ایم. ډي (کینټیب) ایم. آر. اے. ایس. (بشپړه انګریزي ترجمه درې جلده کښې ده. د جلد ۲ او ۳ ترجمې او حواشي په ترتیب له ډبلیو ایچ. لو ایم. اے او کیپټن ټي. وُلزے (پس ته سرټي وُلزے) هیګ آئي. ایس. سي. ایم آر اے. ایس)

(۱۰) د طبقات اکبري (د نظام الدین احمد) د انتخاباتو انګریزي ترجمه دوه جلده، د ایلیټ اینډ ډاؤسن سلسله.

۱) تـوزک جهانگيري (د جهانگير بادشاه خپل پخپله ليکلي حالات د عهد د اوولسم کال
ر سطه او ورپسې د معتمد خان او محمد هادي ليکلي).
اردو ترجمه له سليم واحد سليم صاحب.
۲) اقبالنامه نامۀ جهانگيري د معتمد خان
(دواړه د جهانگير د عهد په حقله د سرکاري دستاويزاتو حيثيت لري.)
۳) بـادشـاه نـامـه د ملا عبدالحميد لاهوري. دوه جلده. د شاهجهان د عهد د وړومبيو شلو
ګلونو سرکاري تاريخ.
۴) عـمل صالح (درې جلده) د مُلا محمد صالح کمبو لاهوري. د شاهجهان د عهد مکمل
يرسرکري تاريخ.
۵) عالمګير نامه د مرزا محمد کاظم. د اورنګ زيب عالمګير د عهد د وړومبيو لسو کالو
رکاري تاريخ.
۶) مـآثر عـالـمګيري د مستعد خان محمد ساقي. د اورنګزيب عالمګير د عهد مکمل خو
ختصر سرکاري تاريخ. چې د بادشاه د وفات نه پس د هغۀ د زوي او جانشين بهادر شاه اول
ه عهد کښې د صـدر ديـوان وزارت نـواب عـنـايت الله خان په حکم وليکل شو انګريزي
جمه له سرجادوناتهـ سرکار
۷) تاريخ فرشته د ملا محمد قاسم هندو شاه فرشته.
(ا) دوه جلده سره پيوست (نولکشور ايډيشن)
(ب) اردو ترجمه په دڅو جلدونو کښې له خواجه عبدالحئ صاحب. جلد ا
۸) منتخب اللباب (درې جلده) محمد هاشم خافي خان.
۹) مآثر الامراء (درې جلده) له صمصام الدوله نواب شاهنواز خان عبدالرزاق خوافي.
۱۰) ايضاً اردو ترجمه (درې جلده) له پروفيسر محمد ايوب صاحب قادري. جلد ا
۱۱) صـراط التـوحيـد د بـايـزيـد اورمړ سـره د اردو تعارف له حافظ محمد ادريس صاحب
رحوم) او اردو دیباچې له عبدالشکور خان.
۱۲) تذکرة الابرار والاشرار له اخون درويزه صاحب مرحوم.
۱۳) دبستـان مـذاهب. چې عام طور سره محسن فاني کشميري ئې مولف ګڼلے شي خو لکه
ئې ما د خپـل پښتـو تـاليف "رحـمـن بـابـا" پـه کتـابـيـات کښې وضاحت کړے دے بناغلي
بدالحئ صاحب حبيبي تر پامه د موبد شاه زردشتي ليک دے
۱۴) سـفـينـة الاولـيـاء د بـادشـاهـزاده مـحـمـد داراشـکوه. اردو ترجمه له محمد علي لطفي

صاحب.
(۲۵) مقامات قطبیه و مقالات قدسیه مرتبه د میاں مهتد اللّٰه صاحب کاکا خیل مرحوم.
(۲۶) البلاغ المبین (ا) د حضرت شاه ولي اللّٰه صاحب رحمة اللّٰه علیه [لاهور] (ب) سره د اردو ترجمې (کراچي).
(۲۷) تذکرۀ علماءِ هند د مولوي رحمان علي صاحب. اردو ترجمه له محمد ایوب صاحب قادري. مقدمه له ډاکټر سید معین الحق صاحب.
(۲۸) تاریخ مفصل ایران د دکتر عبدالله رازي.
(۲۹) رموز بیخودي د علامه اقبال مرحوم.
(۳۰) ارمغان حجاز د علامه اقبال مرحوم.
(۳۱) برهان قاطع (فارسي لغات له فارسی په فارسی کښې) د ابن خلف التبریزي محمد حسین المتخلص به برهان.
(۳۲) غیاث اللغات (له فارسی په فارسی کښې) د غیاث الدین ابن جلال الدین د مصطفي آباد عرف رامپور
(۳۳) مجمع اللغات (له فارسی په اردو کښې) د مولوي محمد رفیع او ابوالفضل محمد فاضل صاحبان.
(۳۴) دي نیو رائل پرشین انګلش ډکشنري (نوې رائل فارسي انګریزي قاموس) د ډاکټر ایس. سي. پال. علاوه له انګریزی په اردو کښې هم معنې بیانوي.
(۳۵) فیروز اللغات د مولوي فیروز الدین.

اردو:

(۱) قصص القرآن. تالیف د حضرت حفظ الرحمٰن صاحب سیو هاروي رحمة اللّٰه علیه (څلور جلده). دا شاهکار کتاب د انبیاء علیهم الصلوٰة و السلام د اسماءِ ګرامي د عنواناتو لاندې د هغو مبارکو پاک او سپیڅلي حالات بیانوي. او د یو اهم تاریخي کتاب کیدو نه علاوه د قرآن کریم د تفسیري ادب یوه ډیره وچته او مهمه برخه ده. څکه چې د قرآن عظیم په قصص کښې چې کوم عبرتونه، بصیرتونه او حقائق او معارف دي د هغو تشریح او توضیح په ډیر مدلل، موثر او ښکلي او ښائسته انداز کښې کوي. څلورم جلد کلهم د حضرت سید المرسلین، خاتم النبین حضرت محمد مصطفیٰ احمد مجتبي علیه افضل التحیاة و الصلوٰة و علٰي اٰلهٖ و اصحابهٖ بابرکات حالات لري چې څان له د قرآن او صاحب قرآن په حقله یو نادر شاهکار دے

(۲)انبیائے قرآن جلد ۱ بشپړ کتاب څلورو جلدونو کښې دے ورومبي درې جلده له جناب جمیل احمد صاحب او څلورم له سید مرتضي حسین صاحب فاضل لکهنوي چې د خطیب قرآن په نامه ګوبنې هم چاپ شوے دے اګر کۀ په دغه جلد کښې امامیه نقطهٔ نظر څرګند سربېنې خو سره د دې مؤلف د انصاف او ادب او احترام د تقاضو د خیال ساتلو عام طور سره ډیر بنۀ کوشش کړے دے د کتاب نور اغني درې جلدونه هم ډیر مفید معلومات او تحقیقي مقالات لري.

(۳)ارض القرآن (دوه جلده) له حضرت مولانا سید سلیمان ندوي صاحب رحمة اللّٰه علیه. جلد۲. دا کتاب د قرآن کریم د تاریخي آیاتو د تفسیر، د عرب د جغرافیې او د هغو قومونو چې قرآن کریم کښې ئې ذکر راغلے دے او د اسلام نه اګاهو د عربو د تجارت، ژبې او مذهب په باره کښې نادر معلومات او بیش قیمته تحقیقات لري.

(۴) سیرت النبي ﷺ (شپږ جلده) . جلد اول او دویم له حضرت مولٰینا شبلي نعماني صاحب رحمة اللّٰه علیه او ۳ تر ۶ له حضرت مولٰینا سید سلیمان ندوي صاحب رحمة الله علیه جلد

(۵) ''رحمة للّعٰلمین'' (درې جلده) له قاضي سلیمان صاحب منصور پوري رحمة اللّٰه علیه جلد

(۶) نشر الطِّیب في ذکر الحبیب له حضرت مولٰینا اشرف علي صاحب رحمة الله علیه.

(۷) ''حضرت محمد رشي'' له مولٰینا ثناء اللّٰه صاحب امرتسري رحمة اللّٰه علیه.

(۸) د رساله پیشوا رسول نمبر کال ۱۹۲۹ ء.

(۹) ''یثاق النبیین'' له عبدالحق ودیارتهي قادیاني (د لاهوري څانګې).

(۱۰) 'تدوین حدیث'' له حضرت مولانا سید مناظر احسن صاحب ګیلاني رحمة اللّٰه علیه.

(۱۱) 'صدیق اکبر'' له مولانا سعید احمد صاحب ایم. اے اکبر آبادي.

(۱۲) لفاروق له حضرت مولٰینا شبلي نعماني صاحب رحمة اللّٰه علیه.

(۱۳) 'داستان کربلا'' له حضرت مولٰینا ابوالکلام آزاد صاحب رحمة اللّٰه علیه.

(۱۴) ' تاریخ اسلام پر ایک نظر'' له مولوي محمد عبدالرحمٰن صاحب صدیقي ایم.اے.

(۱۵) 'الرق في الاسلام'' یا اسلام میں غلامی کی حقیقت له مولٰینا سعید احمد صاحب ایم. اے اکبر آبدي.

(۱۶) 'غلامان اسلام'' له مولٰینا سعید احمد صاحب ایم. اے اکبر آبادي.

(۱۷) 'اسلام کا اقتصادي نظام'' له حضرت مولٰینا حفظ الرحمٰن صاحب سیوهاروي.

(۱۸) "عورت اور اسلامي تعليم" له مالک رام.
(۱۹) "شيخ رحمکار" له ميان سيد سياح الدين صاحب کاکاخيل خټک.
(۲۰) يادګار سلف تاريخ افغانان باره بستي له جناب محمد عبيد الله خان صاحب داؤدزي مرحوم رئيس د بهادر ګړهـ (باره بستي) ضلع ميرټهـ يو.پي. بهارت.
(۲۱) "مرأت العالم" مرسوم به "تحفة الپشتون" له جناب محمد موج حسين خان صاحب مهمند رئيس د سنديله ضلع هردوئي. يو.پي بهارت.
(۲۲) "مرقع افغان" مرتبه د مولوي ابرار حسين صاحب ايم. اے.
(۲۳) "آئينه حقيقت نما" له جناب اکبر شاه خان صاحب نجيب آبادي.
(۲۴) "ہندوستان عہد مغلیہ میں" له جناب سيد محمد ميان صاحب.
(۲۵) "دکن کي سياسي کشمکش" له جناب مولانا ابوالاعلیٰ صاحب مودودي.
(۲۶) "احمد شاه دراني" له جناب سيد نصير احمد صاحب جامعي.
(۲۷) "دولت غزنويه" له جناب محمود الرحمٰن صاحب ندوي.
(۲۸) "رود کوثر" له جناب شيخ محمد اکرام صاحب.
(۲۹) "ائمه تلبيس" يا "غارت ګران ايمان" له جناب ابوالقاسم صاحب رفيق دلاوري
(۳۰) "عرب و هند کے تعلقات" له حضرت مولانا سيد سليمان ندوي صاحب رحمة الله عليه
(۳۱) "خوشحال خان خټک" له دوست محمد کامل.
(۳۲) "تاريخ جهلم" له مرزا محمد عظيم بيګ.
(۳۳) "قاموس المشاهير" دوه جلده له جناب نظامي بدايوني صاحب.
(۳۴) "نسيم اللغات" (اردو) د جناب سيد مرتضیٰ حسين، جناب سيد رضا نسيم او جناب آغا محمد باقر صاحبان.

انګريزي:

(۱) "محمد ﷺ دي پرافټ"، (محمدالنبي ﷺ) له جناب حافظ غلام سرور صاحب.
(۲) "دي ريکنسټرکشن آو ريليجينس تهوټ ان اسلام" (په اسلام کښې د الٰهياتو نوې تعمير) له علامه اقبال مرحوم.
(۳) "دي کيليفيټ" (خلافت) له سر وليم ميور
(۴) "دي سټوري آو دي ورلډ" (د نړۍ قيصه) له جان وان ډوئين ساؤتهورتهـ.
(۵) "دي سټوري آو مين کائنډ" (د بنيادم يا بني نوع انسان قيصه) له هينډرک ولم وان لون

(۶) "اے شارټ هسټري آو دي ورلډ" (د نړی کرچنے تاریخ) له ایچ. جي. ویلز
(۷) "دي اولډ ټسټامنټ اینډ موډرن سټډي" (زړه عهدنامه او نوې څیړنې یا نوې مطالعه) مرتبه د ایچ. ایچ رؤلے
(۸) "دي سټوري آو دي بائبل" (د بائبل قیصه) له هینډرک ولم وان لون.
(۹) "دي ډیډ سي سکرولز" (د مړ دریاب نغښتې) له جے ایم. ایلیگرو
(۱۰) "دي سورسز آو کرسچینټي" (ینابیع المسیحیت یا د نصرانیت سرچشمې) له خواجه کمال الدین قادیاني (لاهوري څانگه).
(۱۱) "اے شارټ هسټري آو دي سیراسنز" (د خاتیز والو کوچنے تاریخ) له جناب سید امیر علي صاحب مرحوم.
(۱۲) "هسټري آو دي ایربز" (د عربو تاریخ) له فلپ کے هټي (یا حطي).
(۱۳) "هسټري آو سیریا" (د شام تاریخ) له فلپ کے هټي (یا حطي).
(۱۴) "دي گریټ ایرب کانکویسټ" (د عربو ستر فتوحات) له لفټیننټ جنرل سر جان گلب.
(۱۵) "اے لټریري هسټري آو دي ایربز" (د عربو ادبي تاریخ) له پروفیسر آر، اے. نکلسن.
(۱۶) "ډیسائسیو بټیلز آو دي ویسټرن ورلډ" (د لویدیزې نړی پریکون کړوني جنگونه) (دري جلده) له میجر جنرل جے ایف. سي. فلر جلد ا
(۱۷) "دي غزنوائیډز" (غزنویان) له بناغلي ایس. ایم جعفر پیښوري.
(۱۸) "سلطان محمود آو غزنین" (د غزنین سلطان محمود) له پروفیسر محمد حبیب صاحب.
(۱۹) "هسټري آو انډیا" (د هندوستان تاریخ) له آنریبل ماؤنټسټوءَ رټ الفنسټن.
(۲۰) "دي شارټر کیمبرج هسټري آو انډیا" (د کیمبرج کوچنے تاریخ هند) له جے. ایلن ایم.اے، سر ټي ولزے هیگ ایم. اے او ایچ ایچ ډوډویل ایم. اے سره له زیاتي ابوابو له آر آر. سیټهي ایم. اے. پي.ایچ. ډي.
(۲۱) "دي سلټنټ آو ډیلهي" (د دهلي سلطنت) له ډاکټر واستاوا صاحب.
(۲۲) "ارلي میډیول انډیا" (د وسطي قرنونو د هندوستان شروع زمانه) له ډاکټر اے بي. پانډے صاحب.
(۲۳) "میواړ اینډ دي مغل ایمپررز" (میواړ او مغل بادشاهان) له ډاکټر جي. این شرما صاحب.

(۲۴) "دي لودهي سلتهنز آو ډيلهي اينډ آګره" (د دهلي او آګرې لودهي سلاطين) له ډاکټر عبدالحليم صاحب.
(۲۵) "دي افغانز ان انډيا" (پښتانهٔ په هندوستان کښې) له ډاکټر عبدالرحيم صاحب.
(۲۶) "مسلم رول ان انډيا" (په هندوستان کښې د مسلمانانو حکومت) له پروفيسر ايشوري پرشاد صاحب.
(۲۷) "دي آکسفرډ هسټري آو انډيا" (آکسفرډ تاريخ هند) له ونسينټ اے. سمتهـ.
(۲۸) "اکبر دي ګريټ مغل" (مغل اکبر اعظم) له ونسينټ اے. سمتهـ.
(۲۹) "شير شاه سوري" له نواب سر ذوالفقار علي خان.
(۳۰) "هسټري آو اورنګزيب" (پينځهٔ جلده) له جدوناتهـ (پس ته سرجدوناتهـ) سرکار جلد۳.
(۳۱) "نوټس آن افغانستان" (په افغانستان نوټونه) له ميجر. ايچ. جي راورټي.
(۳۲) "سيليکشنز فرام دي پوئټري آو دي افغانز" (د پښتنو له شعره انتخابات) له ميجر ايچ. جي. راورټي.
(۳۳) "هسټري آو افغانستان" (د افغانستان تاريخ) له کرنل جي. بي. ميلي سن.
(۳۴) "دي پټهانز" (پښتانهٔ) له سر اولف کيرو
(۳۵) "احمد شاه دراني" له ګنډه سنګهـ ايم. اے. پي ايچ. ډي.
(۳۶) "لائف ايمنګ دي پټهانز (خټکس)" "د پښتنو (خټکو) په مينځ کښې ژوند" له بسټر ګډون.
(۳۷) "آن اے فارين اپروچ ټو خوشحال" (خوشحال خان وته يوه غيره رسائي) له دوست محمد کامل.
(۳۸) "ايران" له آر. ګرشمين.
(۳۹) "دي ريډرز ډائجسټ" ګريټ ايټلس.
(۴۰) "هسټاريکل ايټلس اينډ ګيزيټيئر" له ټوءِ نبي اومائرز
(۴۱) د "هنټر امپيريل ګيزيټيئر (۲۶ جلده). جلد ۵، ۶، ۷، ۸، ۱۰، ۱۲، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۶.
او
د سروے آو انډيا او سروے آو پاکستان او نورې ګڼې نقشې لاطيني فارسي خط.

د مضمونونو فهرست

نمبر عنوان
مقدمه
کتابيات
ديباچه د مؤلف
باعث تاليف کتاب او تهذيب ابواب
باب اول. ذکر د مهتر يعقوبؑ چې سلسله د دې طبقې په دهٔ ورځي.
باب دويم. په بيان د ملک طالوت او د تابوت سکينه وررسيدل د دهٔ په امارت د بني اسرائيل لکه انتها د دې سلسلې او طبقې د پښتنو و دهٔ ته رسي.
باب دريم. په ذکر د خالدؓ بن وليد او بيان د اسلام او امارت او ايالت د دهٔ په بصره او په حلب او په شام او عراق او عرب تر آخره د خلافت د امير المومنين عمر رضي الله تعالي عنه.
۸. فصل اول په ذکر د سلطان بهلول، فصل دويم په مذکور د سلطان سکندر .فصل دريمپه مذکور د سلطان ابراهيم.
۹ فصل دويم. په احوال د سلطان سکندر لودي.
فصل سويم. ذکر د سلطان ابراهيم.
دفتر دے دويم په بيان د خلافت د شير شاه او اسلام شاه او احوال د عدلي او نورې مقدمې.
شير شاه.
ذکر د اسلام شاه د سلطنت.
ذکر دے په بيان د عدلي او باز بهادر او د نورو لوحانيو (او نور مقدمات).
مهم د تاراګړهـ.
۱۵ ذکر په بيان د غوري او د خښي او کرلاني، راتلل له قندهاره د کابل و صوبې ته او دا ملک د پېښاور اوغيره نيول او په دا وخت چې څهٔ واقعات د نيک او بد تير شوي دي. او بعضې تواريخ د خپل اولس او احوال د خانانو دمورِ خپل سرګزشت بيانول.
۱۶ ذکر په بيان د راتلل د خښي و پېښاور ته په حادثات.
۱۷ راتلل د غوريه خيل له قندهاره.
۱۸ ذکر مشتمل په احوال د پير روښان او د دهٔ د اولاد چې په دا ملک د کابل د صوبې

چې څۀ نیک و بد د دۀ د اولاد په سبب واقع شوي دي.

۱۹ ذکر په بیان د خپل انساب او احوال د خپل اولس چې له یوۀ خایه بل خائے ته په سبب د حوادثو د روزګار ئې نقل کړے دے او هر چې په دا مینځ کښې واقع شوي دي.

۲۰. ذکر د خټک د مکان چې له کومه خایه راغلے دے او کوم کوم خاے ئې سکونت او توطن نیولے دے او تخمیناً حساب ئې د کورونو

۲۱ ذکر د ملک اکوړي او د دۀ د اولاد چې د تمام خټک خاني او سرداري ئې په خپل خپل وار کړې ده.

۲۲. ذکر د خټک د اولس چې له نورو اولسونو ئې بدي کړې ده.

۲۳ ذکر د خان علیین مکان د قرانونو چې په حالت د طفولیت او شباب پرې تیر شوي دي او حق تعالی په خپل فضل و کرم پرې اسان کړي دي.

۲۴ ذکر د شاه شجاع د ورکیدو او د یو بل شخص خان په شاه شجاع مسمي کول بیانیږي (او ورپسې اهم واقعات).

۲۵ سوات نامه. او واقعات په تسلسل د تیرو واقعاتو

ذکر د میرویس غلجي.

مقدمه د جمال (او نور واقعات).

مقدمه د بنګښ د جنګ.

مقدمه د عزت کهتړ

۳۰. واقعات د فرخ سیر بادشاه د قید او په تخت ناستے د رفیع الدرجات (او نور واقعات)

۳۱. عهدنامه د نامدار (او نور واقعات)

۳۲. فصل. (وفات د خوشحال خان او ترې وروستې نور واقعات).

۳۳. تذکره د پښتنو اولیاؤ

۳۴. سړبني اولیاء.

۳۵. ذکر په بیان د خوارق د بعضې مشائخانو چې له قومه د بیټني دي.

۳۶. ذکر د خوارق او کرامات د بعضې مشائخانو چې غرغشتي دي.

۳۷. ذکر په بیان د عارف معارف اولیاء افضل فضلا و نجبا زبده د ابرار قدوه د الاحرار مجدد الف ثاني. اکمل طریق معنوي و صوري شیخ آدم بنوري قدس الله سره العزیز

۳۸. مصافحه د باب الوقوف.

۳۹. ذکر په بیان د کراماتو د شیخ نسک خټک د کرلاني.

مناقب او مکارم د شیخ بهادر، پدر بزرگوار د شیخ رحمکارؒ
ذکر د شیخ رحمکار ختک پښتون کرلانيؒ.
مناقب په احوال د شیخ جیو د طفولیت.
مناقب مشتمل په ذوق د مریونو د آزادولو
ذکر قدوهٔ محققین زبدهٔ علمائے دین متین پیغمبر امین غازي غزاءِ کفار طرف
هستان کاشغر و چین ښکار ترونے د مریدانو په فتراک یعني حضرت اخوند محمد
لاک قدس الله سرهٔ.
ذکر د میاں الله داد چشتي.
ذکر د راول فقیر
ذکر په ختم دکتاب او بعضې انساب.
فصل اول په بیان د اولاد د سړبن.
فصل دویم (په بیان د بیټني).
فصل دریم په بیان د غورغښتي د اولاد.
ذکر په بیان د کرلاني.
۵. نوټونه.
۵. څو نور نوټونه.
۵. هم د تیر عنوان په لړ کښي.
۵. ضمیمه ۱. د برخو میرمنې پښتني بیباني.
۵. ضمیمه ۲ د خواجه نعمت الله د همکار هیبت خان کاکړ د کورنی حال او نسب
به.
۵ ضمیمه ۳. د کتاب تاریخ خان جهاني مخزن افغاني و پائې ته د رسیدو تاریخي قطعه
د جهانګیر باچا او د نواب خان جهان مدح. حمد او سلام.
۵ ضمیمه ۴. د کتاب ځنې ناقص او مشتبه ځایونه.
۵ ضمیمه ۵. د ځنو لغاتو تشریح.
انډکسونه
شخصي نومونه.
جغرافیائي نومونه.
د غلطیو درستي.

يَا فَتَّاحُ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رَبِّ يَسِّرْ   وَ تَمِّمْ بِالْخَيْرِ

ديباچه د مؤلف

[۱] بالملك القدوس(۱) سبحان الله و بحمده، پاکي ده هغه خدای تعالي لره چي زمام ني
اختيار و اقتدار په قدرت کامله سره د خلقت د انساني په جناب گردون اقتدار ني بادشاها
عالي تباروسپارلی دی. باوجود چي تيغ خلقت انساني د داعيه د رياست او سلطنت نه خالي
دی. په دا هومره خلقت کښي د دوئ د وړاندي نه خويشان نه دوستان نه اقربا نه نوکران دم
رياست او سلطنت وهلی شي. (۲) اوامر د دوئ واجب وگني او له امره ني گردن تابي سبب
عصيان شي او ظل الله بالهٔ شي. آثار د معرفت په دا کښي صريح ظاهر ليدهٔ شي کهٔ زړونه
بندگانو په قبضه کښي د اقتدار الٰهي نه وی پس يو سړی څهٔ وجود لري چي په دا هومر
زرگونه مشتاقان او يوه معشوقه د سلطنت يوه بادشاهي په يوه بادشاه مسلم کيده چي اراده نې
نهٔ وي په اصحاب کبارو چي خلفائی راشدين دي مخالفت پکښي پيدا کا چي اراده بل رنگ
وي زر کاله يوه ورځ کم ضحاک بادشاهي کا. په فرعون باوجود د مخالفت د حضرت
موسیٰ برقرار لري پس کهٔ بادشاهان دي کهٔ امراکان کهٔ سائر الناس دي دوارو زړونه ا
ارادي په يد قدرت کښي د الٰهي دي بيت

څوک له خاورو ايرو پاڅوي تخت ورکړي

څوک له تخته د ايرو په ډيران ولي (۳)

بادشاهي سلطنت په مثال د هر سړي د زندگاني دی. هر سړی چي په دنيا کښي زند
پائي عمر د دهٔ له روز ازل نه هر څو چي وي مقسوم وي. هغه هومره د دهٔ زندگي بويه کهٔ په د
کښي چي اراده الٰهي نهٔ وي هر څوک چي د دهٔ د مرگ اراده وکا هرگز به پيښ لاړه نهٔ شي
بيت :

اگر تيغ عالم بجنبد ز جائے   نبرد رگے تا نخواہد خدائے

په دا مدت زندگاني کښي د دهٔ د هر عالم په کار باطن د دهٔ پاخهٔ کا. مرگ هاله ا
سړي چي ني قضا وي. ژوندون د سړي د اقسام بيماري او ناکامي سره تړلی دی "البيمار
تختهٔ مشق طبيبان" چي دي بيمار شي طبيب ورلره راشي اقسام دارودرمل ورته ساز کا، ورکا
قضا راغلې نهٔ وي په خپله موده سره روغ شي طبيب وائي کهٔ يوه ورځ راغلی [۲] نهٔ وی نو مر

وهٔ. سره ناکامي چې پـه دا مـدت ایام زنـدګاني کښي ورپیښه شي په هر سبب چې مشکل کښلي وشي دے نظر په هغه سبب او اسباب وکا او چې وخت ئې اخر شي هیڅ لنډے غوایهٔ له خپـه ځانـه مچ ونهٔ شړي پاتو د بل. کهٔ طبیب وهٔ کهٔ هغه وهٔ چې طبیبي ئې کړه واړه لاړ شي. "علـم از روز پسین مي ترسند عبدالله از روز اول" بادشاهي او سلطنت چې د چا نصیب وي هـوره مدت مقرر شوے دے په خپل وقت په عرصه ظهور راځي د هر خلق یو ازمائش په خپل کسب کښې د خـدایے تـعالیٰ له لوریه شته د بادشاهانو ازمینښت په دا کښي دے چې احسان عدل کا. رباعي:

خانان (۱)هغـه وي چې پـه خپل نام دي — نـهٔ پـه دنیـا دي نـهٔ پـه خپـل کـام دي
چې پـه کـوم تـوکـي نام او ښیګړه وي(۲) — پـه هـغـه فـکـر کښي پـه صبح وشـام وي

فرد:

از هرچه طلب کنی شب و روز — بیش از همه نیک نامی اندوز

بیا دا هم د هغهٔ په امر کښي دي "یهدی من یشآء و یضل من یشآء". بیت:

بر نیاید این دو کار از هیچ فرد — مردی از نامرد و نامردی ز مرد

نـوشیروان کافر وهٔ هغه لاړ ئې شړله چې ئې اراده وه. نجاشي د حبش وهٔ هغه ئې کړل چې ئې اراده وه. حـجـا ج او یـزید هغه کړل چې ئې اراده وه. دا چې مې ووې چې د هر سړي مثال د زندګی د بادشاهی دے په دا سبب چې بادشاه سر دے د وجود دا نور ممالک په مثال د ورو جود دے چې د دهٔ وخت د بادشاهی په اخر نهٔ وي رسیدلے ورانه ودانه په تدبیر د دهٔ او د .هٔ د مـصـلحتیانو مشکل اسانیږي لکه بیمار او طبیب هرګاه چې وخت د سلطنت ئې په اخر ورسي. (۳) مصرع:

سود ے نہ دہد یاری ہر یار کہ ہست

کـلـیـلـــه دمـنــــه چـې لـولـي — دانـــایـــان ګـــنـــي خـپـل خـــان
کـــهٔ پـــه دا کښـي څـــهٔ فـائـده وے — بـــنـــد بـــــه نـــهٔ وهٔ شـــاه جهـــان
چـــې اســـمـــان فتـــنـې بـــرپـــا کـــا — هــــورتــــه څــــهٔ کـــا دانـــایـــان

پـس لازم دي بـادشـاهـانـو وتـه چـې الله تـعـالـي دوئ ته دا هومره قدروقیمت ورکا د ازمینښت دپاره دې په رضامندی د الله تعالیٰ کوشش کار کا. رضامندي د خدایے تعالي له دهٔ نه په څهٔ کښي ده؟ "خدا باخلق خلق باخدا" سره جدا نهٔ دي. خلق راضي خدایے راضي، خدایے راضي خـلـق راضـي. پـه قـدر استـطـاعت دې طاعت د خدایے تعالیٰ کا نور عدل چې د خلقو محنت په خان کا هومره د دهٔ تر خدایے مجرائي ده. بیت:

سری کردن از مردم از مردمیست   وگرنه همه آدمی آدمی است

او کهٔ خان ظل الله کا (۴) د خدایے سایه شي کښېني او شراب او غفلت یا بلابتر واخلي. بیت:

مخ په ښخو یا شراب یا چې ډیر ښکار کا   دا درې توکه ( ) دي د مرد هرزه کارې

بیت   گرچه به صبوح باده پیوست [۳]   باده تو خوری عدو شود مست

دا مثال د هغه روستائي شهٔ چې ځیره ئې زرینه په سر وه کونه برمنډه په بازار کښې روان چې عالم ئې ننداره کړي په گمان د دې چې ځیره زرینه مې په سر ده عالم مې ننداره وکا او خلق ئې د کوزوپاس د دواړو تماشبین وو په تهمت د خلقو گرفتار په نعمت الٰهي بزه گار هوا و هوس او مستي حرامه ده په بادشاه په دا سبب چې دے حارس د ملک دے زبوني ده چې نگهبان محتاج د نگهبان وي. مثنوي.

بیا تاز بیداد شو بیم دست   که بیداد نتوان بیداد رست
سکندر بانصاف نام آورست (۱)   دگر نه زما هریک اسکندر است
ترا بهر عدل آفرید   ستم ناید شاه عادل
شهر و سپاه را شوی نیک خواه   نیک تو خواهد همه شهر
خانه ملک ستم گار یست   دولت باقی کم آزاریست
مملکت عدل شود پائیدار   کار عدل تو گیرد قرار
عمر خوشنودئ دلها گزار   تا خوشنود کردگار
ستانی کن درمان   ستانند فرمان دہی
که درین خانه شبے   خانۂ فردائے کرد
عدل تو قندیل شب آویزے است   مونس فردائے تو امروزے است
دست سر بیچارگان   تا نخوری پاسخ غمخوارگان
درین پرانداخت است   پر سیمرغ وطن ساخت است

کهٔ هر څو ښه ده چې تیریدوني ده   دنیا په پڅه نهٔ پیریدوني ده
کهٔ ښهٔ کړے ښهٔ کړه کهٔ بد کړے کهٔ بد کړه   کرده د هیڅا نهٔ هیریدوني ده

مرتبه د بادشاه کهٔ لویه نهٔ وے حضرت داؤدؑ او سلیمانؑ او اصحاب کبارؓ به دا مراتب نهٔ غوښت پس معلوم کړي بویه چې دا هسې عالمو بادشاهي په خواهش غوښته او کړه ئې نه د دې جهان د عیش دپاره چې ښهٔ به خورو حرام حلال دین وته به شا کړو نه مصلحت د دوئ دا وهٔ چې دوئ په عقل کښې خان کامل کا او چې دا د خلقو خدمت لوے خدمت دے چې تر دي

نه ضامندي ډيره د خالق په بل څهٔ نشته مونږ به د عاقبت توښه حاصله کړو.
مثنوي:

دين چو بدنيا بتوانى كن كمن ديو شنيد
آنكه ترا توشئه ميدهد تو كيے خواهد ده ميدهد

کار د سلطنت د ديو هسې سړيو دے ليکن هر ګيدي مسخره هوس د سلطنت لري.
بيت : گرچه عمل كارخردمند نيست جز بخردمند مفرما عمل
قطعه

احمق ښځه ده بد رنګه رنګا رنګ زيور پري پوري
چې [۴] زيور ورځني واخلے نور به نهٔ پيرے په توري
کهٔ احمق په دولت ښهٔ شي کهٔ تري ولاړ شي نور به ګوري

او په هغه مسخره باندې هم وار د بادشاهي راشي. دے په خپل عقل ناقص سره ګمان وکړي چې ګوره څهٔ مې قبول شوي دي. بادشاهي راغله وخت دے عيش کړے بويه او په توفير د مال لاس د ظلم اوږد کا د خلقو په مال باندې او خان په مستي په بې خبري مشغول کا چې دا عيش دے. خسرا الدنيا والأخرة شي. دا څو خبرې سره وابسته دي يو تر بله فراغت د رعيت په بادشاه او نظام د بادشاه د کار په عدل او رونق او ښائست د عدل په عقل دور انديش چې عقل ئې نهٔ وي هغه لائق د بادشاهي نهٔ دے کهٔ وشي هم هيڅ او دا حکمت الٰهي دے الله تعالي چې ښهٔ پيدا کوي نو بد هم ورسره وي. مثنوي:

بہ قومے کہ نیکی پسندد خدائے دہد حاکے عادل و نیک رائے
چو خواہد کہ ویران کند عالمے نہد ملک پنجۂ ظالمے

سائر الناس ته لازم دي چې امر د بادشاه په ځاے راوړي. خلاف امر ئې ونهٔ کا کهٔ عادل وي کفران د نعمت دې نهٔ کا چې خداے تعالیٰ ئې په بلا اخته نهٔ کا همېشه دې په دعا وي کهٔ ظالم وي صبر دې کا چې خداے تعالي جزا ورکا څکه ئې فرمائيلي دي: أَطِيعُوا اللهَ وَ أَطِيعُوا الرَّسُولَ وَ أُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ (۱) کهٔ بادشاه ظالم وي هم دې ځني مخالفت نهٔ کا په دا سبب چې کهٔ دے عادل وي او خلق ته د خپل مقصود دپاره ظالم او مکروه ښکاره شي په بلا به اخته شي. او کهٔ دے ظالم وي هغه ظالم هم الله تعالي د يوهٔ مقام ناسپاس دپاره د تنبيه د هغه قوم نازل کړے وي. لکه چنګيز د خداے تعالیٰ اراده لکه دجال څوک نهٔ شي جاريستے څو ئې خپل وخت پوره شوے نهٔ وي. دوئ ته به ازار ورسي په دواړه شق د دهٔ سره مخالفت نهٔ بويه.(۲) طبيعت د آدمي زاد بلکې د هر جاندار په مکافات سرشته دے. جهان ځاے د مکافات

دے. بد به مومي چې بد کا. رياست په درې قسمه دے يو اجماعي، بل ميراثي، دريم تغليبي. (۳) اجماعي دا دے چې خلق سره ټول شي. اتفاق وکا نۀ هغه چې په اشارت د چا يا په رشوت سره جمع شي. دا ئې په ميان کښې نۀ وي نظر ئې په خيريت وي او مخالفت څوک نۀ وي په دا رائے واړه متفق وي لکه سرور کائنات ﷺ فرمائيلي دي "لا تجتمع امتي علی الضلالة" يعني امت د ما به په ضلالت جمع نۀ شي او يو شخص پکښې مخصوص کا بانده دي چې عوام الناس ئې مخصوصوي خالي د دوؤ صفتونو نۀ وي اول دا چې عيب او عار د نسب په هغه قوم کښې په دۀ پورې نۀ وي چې بل سړے په خاطر کښې سبقت په دۀ باندې د حسب و نسب ګرزوي. لازم نۀ دي[۵] څۀ په رئيس باندې چې دے په صلاح سره غوره شۀ. بيا څوک خان بهتر ګڼي. دويم دا چې هلک خلمے لائق د دې کار نۀ وي. بل دا چې فقير درويش ملا چې اجنبي د هغه قوم وي بلکې صاحب تبار او په روزګار ګزشته کښې دولت مند زاده او په هغۀ روزګار ازمئيلے او تجربه شوے وي چې په دا صفتونو اراسته وي او دا فريق چې منع د دې کار وي په دا سبب چې اجنبي هر څوک چې ري کۀ ملا کۀ درويش چې په دا ملک کښې غريب مسافر راشي هيڅوک د دۀ په حال خبر نۀ وي او نۀ دين مذهب نۀ ئې علم نۀ ئې عمل خوئ خصلت ازمائيلے شوے وي. قطعه:

توان شناخت بیک روز در شمائل مرد — که تا کجاش رسید است پایگاه علوم
ولے ز باطنش ایمن مباش غره مشو — که خبث نفس نگردد بسالها معلوم

رباعي

هنر په دوه ورځې ښکاره د کس شي — عيب ورو ورو ښکاره پس پس شي
يو شان مرغې نشي د سرې د خالي — ور ځنې باز و کارګان ګرګس شي

او وطني د هغه ملک به تر کومه خپل علم او تقوئ پټ او پنهان ساتي. او هم هغه وي دے چې و خلقو ته څرګند وي او اجنبي په تکليف سره په غربت کښې خپل هر کار پټ ساتي. او بل متوطني د خپل ملک د خپل قوم ننګ شرم او شفقت په خپل وطن او په خپلو متوطنانو ډير لري. او هغه برعکس وي او هلک او خلمے په دا سبب چې څو سړے په کمال د عمر ور نۀ شي د دۀ خوئ بوئ معلوم نۀ وي. پس چې په ځوانئ چې په مثال د نادانئ ده رياست او سرداري ورشي اخر کار او سر انجام ئې ګوره څۀ شي. مثنوي:

بخوردان مفرمائے کار درشت — که سندان نشاید شکستن بہ مشت
چو یوسف کسے در صلاح و تمیز — بے سال باید کہ گردد عزیز

هغه څوک چې په لږ دولت کښې ازمائيلے او په وسط عمر کښې اراسته وي مشت

جو نمونۀ خروار په ډیر دولت او په پیری به لا ښۀ شي او بد به نۀ وي. او هغه صفتونه دا دي.
.ریـم بویه چې دانا او عاقل وي په دا سبب چې ونه د صورت بیخ داره ده او بیخ ئې زړۀ دے او
:ا نور حواس ئې څانګې ښاخونه دي. هرګاه چې عقل او دانائي نۀ وي له هغۀ به هیڅ ښیګړه او
نه ونشي. او په غلطه کۀ چرې ښۀ ترې ظاهر شي بیا پسې. رباعي:

ونــــه پـــــه ولــي تــازه ولاړه وي　　چې بیخ ئـې نـۀ وي خـوبـي ئې لاړه وي
اوبـــۀ بـــاد خـــوارۀ ورلـــره بـویــه　　بیـخ ئې قـائـم شـي چې دا څـۀ واړه وي

قطعه　گاه باشد که کودک نادان　به غلط بر هدف زند تیرے

د دانـایـی او د عقل خواست هیڅوک نۀ کا په دا چې دا له روز ازله دي او موقوف په
ـور سپین پـه کبنـل پـه لوستل نۀ دي محض داد او حکمت د پروردګار دے　دانا به نادان او
ادان به دانا نشي. قطعه:

عیسیٰ یـو نـادان هوښیـار نـۀ کـړ په عمر　پـه اعـجـاز ئـې کـۀ کـۀ ړاندۀ بینـا کول
[۲]څوک چې خدائے په ازل نۀ دي دانا کړي　کـــار د چـــا دے د نـادان دانـــا کـول
چې نـادان پـه سبق زده حالِ به ئې څۀ وي　پـــۀ خـضـاب سـره زاړۀ بـرنـا کـول

درخـور حـال آدمي زاد چې جوهر د دانایی لري هر یو ځائے په ځائے خودبخود مغرور وي اما
دا دانا ته مقبول او منظور نۀ وي. رباعي:

خـواري ئـې نشته چې څوک هوښیار وي　هـوښـیـار چـې نـۀ وي په خواری خوار وي
نـراد چــي ښــۀ وي د نـرد ګـتـنـه کـا　بـد بـــاز پـــه بـده بـــازی نـــاتـــار وي

بیت　دشمن دانا که بے جان بود　بهتر از ان دوست که نادان بود

پـــــه دروغـــو ســــرے رســـوا شـــي　خـــوار پـــــه دیـن او پـــــه دنیـــا شـــي
کــــۀ وفـــا وي کــــۀ جـــفـــا وي　هـــــره چـــار دې پــــه ربنتیــا شـــي
مـــواســـا بـــویـــــه لـــــه بـلـــــه　دلاســـا بـــویـــــه لـــــه خپـلـــــه
پـــه ښـکـنـخـل کښـې دې نـمـنـخـل وي　پـــه نـمـنـخـل کښـې دې کـنـخـل وي
هـــفـــه بـــر لـــه عـــمـــره خـــوریـــنـــه　څـــۀ بـــرداشـــت کـــۀ د چـا وریـنـــه
چـــې یـــو بـــد وائـــي تــــۀ ښــــۀ ئـــې　هـــفـــه اور شـــۀ تـــۀ اوبـــۀ ئـــې
چـــې اوبـــۀ شـــي پـــه اور تـــلـــې　هـــورتـــه مـــړې شـــي لـــمبـــې بـــلـــې
پـــه ســـل خـــلـــه کـــۀ څـوک کـرم شـي　بیـــا دې هـــم بـــانـــدې کـــرم شـــي
کـــۀ روتـــې وي کـــۀ اوګـــره وي　د یـــــارانـــــو دې ســـــره وي
دا دوه تـــو کـــــه ریـــاســـت دے　ســـخـــاوت بـل شـجـاعـت دے

دورې نشته بله حیله   یا سپینکې یا کر یا کیله
چې به نرد یا به شطرنج کا   کهٔ په شرط وي ما به رنج کا
بیهوده نهٔ ظرافت دې   پس دا هومره اشارت دې
چې خپل ستر په چا ګران وي   بل به چیرې پرې اسان وي
هر هنر ښهٔ چې دې زده شي   ډیر خو غشي غشي غشي
کهٔ دې زویه کره تلهٔ وي   بې چړې توري دې نهٔ وي
چې ئې نهٔ وي درسته پوره   تیره تُوره مشهوره
چې به پاس په اس سوریږي   د بقال غوندې ښکاریږي
نهٔ ګورم د نیزه بازو   نهٔ یو سور د تیر اندازو
په وسله مینه له اصله   وسله تل کره له خان وصله

مطلب دا چې مور پلار او استاذ خنې ازار نهٔ وي او حق ئې د خپلو ولي نعمتانو پ
خاے راوړے وي. دویم دا چې د قهر په وخت په خپل قهر غالب وي. اندازه د سړي د عقل پ
وخت د غضب ښکاره شي غضب ئې غالب نهٔ وي. قطعه:

یوه بیره دویم قهر   په سړي پرې باسي قهر
چې څوک دا خویونه ورک کا   تل به خوښ اوسي په دهر
دا هر چا لره بلا دي   لا ملوک لره دي زهر

دریم دا چې په عمر دراز او په فراغت د روزګار مغرور نهٔ وي چې خان ئې له خالقه ا
له خلقه بې نیاز کړے نهٔ وي. او حق ئې د خدائے او د خلق په ځاے راوړے وي. څلورم دا چ
له مکره له فریبه خالي وي. پینځم دا چې له هوا او هوس او له ډیره شهوته خالي وي او کهٔ څ
پکښې وي مراد او مقصود ئې نهٔ ګنې. شپږم دا چې بې حیا او شوخ چشم نهٔ وي او همیشه ب
حیا کښې وي. اووم دا چې بې سبب په چا بدګمانه نهٔ شي. مطلب دا چې څهٔ تقصیر صریح
واقع نهٔ شي بدګمان دې نهٔ کا. اتم دا چې زود رنج دې نهٔ وي بردبار دې وي. بیت:

از صحبت بادشاه به پرهیز   گو باشد گاه نرم وگه تیز

[۷] ابیات:

په یوه ذره کښې پاسه په اسمان شي   په یوه ذره ورخي سحت الثرئ تا
د خپل خوئ په ګردابونو کښې غوټې خوري   دغه خوئ به ترې ورک نهٔ شي تر مماتا

نهم دا چې بزدل نهٔ وي چې په حادثات کښې محکم وي. فرد:

گر از هر باد چون بیدے بلرزی   اگر کوهی شوی کاہے نیرزی

قطعه:

د مـرد چـې صبـر چـې استـقـلال نـهٔ وي　　چې غم پرې ورشي پکښې خوشحال نهٔ وي
مـردي نـې هيـڅ ده زمـا پـه پـوهـه　　کهٔ نې په جاه و دولت څوک سيال نهٔ وي

لسم دا چې حريص او طامع نهٔ وي چې په چا ئې حق نهٔ وي څنې غواړي او اخلي او چې د چا وړپورې نهٔ وي و هغو ورکوي او آمد او خرڅ دې ئې هسې وي چې عقل ئې پسندي. قطعه:

ښه ده دا خبره کهٔ ئې پند کړے اے خوشحاله　　داد پـه خـروارونو کړه حساب تر يو مثقاله

او بـل رياست موروثي چې له پلاره له نيکهٔ ورته پاتو وي د هغو سره مخالفت نهٔ بويه مګر پـه اتفاق د خلقو يا چې مَينه ئې وجاړه شي څوک ئې له اولاده پاتو نهٔ شي او يا اولاد ئې جونې مخبط شي. بيت:

چې سړے تر عـقـلـه تير شي مخبط شي　　زيست روزګار ئې له خبطې سره غلط شي

او ظـلـم بـدخوني په لاس ونيسي. خلق الله څنې نفرت واخلي نه د خپل مقصود دپاره دې خـلـق چـې فـلانـه تـه ډيـر ورکـوي او مـاته لږ راکوي د خپل مقصود دپاره ګرزي عالم له سرداره متنفر کوي ظلم دا دے چې په ناحق چې شرع او عقل ئې نهٔ پسندي د چا مالونه اخلي يـ کـلـې وهـي او خـلق بې ګناه ازاروي. هذا القياس نوره ګمراهي چې مردود شريعت وي په لاس واخلي واړه خلق ئې په اتفاق ظالم او بدبخت وګڼي او کهٔ نهٔ وي د دهٔ سره مخالفت سبب دعصيان دے او بل هغه رئيس دے چې تغليبي وي. په يوهٔ سبب نهٔ ميراثي او نهٔ اجماعي وي په خپل زور يـا د بـل پـه زور راشي يو ملک په تصرف ونيسي کهٔ دے عادل وي تر پخوا حاله د خلقو احوال بهتر شي شکر دې د خدائے په ځاے راوړي خپل مقصود ته دې نهٔ ګوري نظر دې د خـلـق د خـدائے پـه مـقـصود کا دعا دې کا خدمت دې کا او کهٔ دې ظالم وي اتفاقي تر اول حال احوال د خلقو تباه شي نظر دې په خپل لږ سود بهبود نهٔ کا د خدائے د خلق دښمن دې ئې وګڼي هميشه دې په دعا مشغول وي لکه خلق د خدائے کا هغه دې کا څو د دهٔ زوال وشي(۱) منـصود دا دے چې مدار د درست په ښهٔ بد بادشاه نهٔ دے متابع ئې ښهٔ بويه کهٔ بادشاه ښهٔ شي خو يـو سـړے وي نـهٔ نـې تدبير تر نوره خلقه زيات وي نهٔ ئې زور مدار ئې بيا په مددګار وي. نـقل دے چې حضرت عليٍّ ته چا ووئيل چې تر تا پخوا مخالفت نهٔ وهٔ دې تا په وخت پيدا شهٔ. دهٔ ورتـه ووې چـې د هغو مددګار مونږه وو زمونږ مددګار تاسو ياستئ. لکه د پښتنو بادشاهي چې پـه سبـب سـره نـې څـو کـاله وکړه چې مددګار ئې بيوقوف وو خپله تُوره ئې برهم کړه. بيګانه ئې له خپله لاسه راوستل. تُوره ئې تلف کړه په دا اميد چې تُوره دې مغل امرائي زمونږ چې تُوره د مغل قائمه نهٔ وه د دوئ امرائي قائمه وه چې تُوره د مغل قائمه شوه فکر ئې وکړ چې

دي قوم چې خپله تُوره برهم کړه زمونږ سره به څهٔ وفا وکا. [۸] لائق د امرائي نهٔ دے په وار وار ئې امرائي ځنې واخسته اوس ئې کاځره بهانشته. چې قوم لائق نهٔ وهٔ قابل به ئې تُوره کښې څهٔ پیدا کیدل ځنې لاړه. رباعي:

دولت په مثل مارغهٔ د ښکار دے | باز دے شاهین دے چرغ دے شنقار دے
له لاسه تللي مرغونه څوک نیسي | د ښکار مرغه مې د ښهٔ میر ښکار دے

د مغلو په تُوره کښې جهانګیر قابل نهٔ وهٔ مددګارو ئې تُوره وساتله. بیا شاهجهان قابل پیدا شهٔ. عالمګیر قابل پیدا شهٔ.(۱) دې مغلو روتی ملک ګیری عزت تراوسه قائم دے مطلب دا چې ډیر دولت په ډیرو ښو حاصلیږي یو کهٔ قابل شي خو خپله روتی حاصله کا مطلب دا چې ریاست د متابع وپیژني په دا دې عمل کا چې بادشاه غوره شي په دا درې قسم نور مخالفت ورسره نهٔ بویه چې په مخالفت کښې بې له زیانه هیڅ سود نهٔ وي. بادشاه لره لازم دا چې وونیل شول. قطعه:

کهٔ همه عالم په عقل زیست روزګار کړي | هیڅ بدی فتنې به نهٔ وي په دا میان کښې
واړه نفس دے چې په مونږ کا فسادونه | کنه کومه ګمراهي ده په شیطان کښې
حماقت جهل ګنده خویونه بد دي | شور غوغا بلا پیدا کا په جهان کښې

دے به بادشاهي د خلق خدائے کا په دا خلق کښې په څو قسمه عالم پیدا شي څوک غل څوک رهزن څوک حاسد دولت دا نصیحت کهٔ یوهٔ سړي ته وي چې ښهٔ سړے وي په ځاے به ئې راوړي ډیر عالم چې واړه ښهٔ وي هالهٔ به ئې په ځاے راوړي. قطعه:

درست عالم تیر سو شپیتهٔ برخې حساب کړه | هغه تیر سو بخرې واړه ناکسان دي
په شپیتو کښې پنځوس بخرې هوښیاران دي | په دا هومره کښې لس برخې غازیان دي
درست عالم په ناکسانو سره ډک دے | ولې زیات به پکښې ګورې افغانان دي
هوښیاران نیکا ن په هر مکان کښې شته دے | چې کثرت ئې دے په ملک د خراسان دي
چې داخل په جمع خرڅ نهٔ دي په دا کښې | هغه واړه جټ هندکي د هندوستان دي

سردار ته بویه چې ریاست سیاست سره جوړ لري څو سیاست نهٔ وي. بیت:

ملک بہ میراث نگیرد کسے | تا نزند تیغ دودستی بے

حضرت عثمانؓ په اتفاق د امت بیا هغه رنګ امت چې اصحاب وو په حضرت عليؓ تې دے برګزیده په خلافت کړ بیا ئې په لږ مقصود شهید کړ ګناهګار شول. ابیات:

څو د ملک وارث ونهٔ وهي سرونه | هومره چیرې قراریږي سمې غرونه
یا به ستا په ورهٔ ناري وي تا به ژاړې | یا د ستا له لاسه ویر د چا په ورونه

د سردار د ریاست ونه په وینو   په لیرشنو د اعدا کا ثمرونه

د سردار روزگار یو له رعایا سره دے بل د مخصوصانو بل له سپاهیانو درې واړه فریقو سره روزگار دا شان بویه. اول له رعایا سره مجمل بیان شي. بیت:

رعایت له رعیته سره بنه دے   دا هالهٔ چې بیرون نهٔ وي له احکامه

قادر شو و بردباری باش   ےخورد هوشیاری باش

خو رعایا له حکمه بیرون نهٔ وي تر خپلو فرزندانو پرې شفقت زیات بویه. [۹] التعظیم لامر الله والشفقة علیٰ خلق الله. اما په مجلس کښې دې ئې گستاخ نهٔ لري عوام الناس کوته اندیش بې عقل وي یا به له دوئ حرکت نامناسب وشي چې باعث به د غضب سلطاني شي. لازم نهٔ دي چې بې تقصیره په رعایا غضب کیږي. یا به گستاخ شي. مثال دے چې "عوام را بہ خود گستاخ مکن" بل له وزیرانو د مصاحبانو سره زیست وي. هر څوک چې په وزیرانو نادرستو اعتبار کا لاس دې له بادشاهی پریږینځي. مطلب دا چې بارها ازمائیلې نهٔ وي په سختی پرداخت کښې چې په سختی وفادار او په دولت کښې ځان پیژندونے نهٔ وي اعتبار دې پرې نهٔ کا. بیت:

برو بردل از جور غم بارہا   کہ تا آزمودہ کند کارہا

په دا سبب چې بني آدم قرار په خپله مرتبه نهٔ لري. بادشاهي او سرداري تر واړو اعلي دي. حکایت: د سلیمان علیه السلام، آصف برخیا بلقیس سره ناست وو طعام ئې خوړ بلقیس ووې چې دا ماهے چې زمونږ د وراندې کباب دے ممکن دے ژوندے شي. آصف برخیا وونیل چې هو ممکن دے کهٔ هر څوک انصاف ظاهر کا ژوندے به شي. آصف وونیل دا هومره مال ملک د سلیمان زما تر مهر لاندې دے. تمام اختیار ئې زما دے. اما تر دواړو دوست تر لرم چې کهٔ زهٔ سلیمان وے او سلیمان آصف وے. ماهے په حرکت کښې راغے بیا سلیمان وونیل چې دوه کسه چې یو خالي لاس بل له هدیه سره راشي زهٔ دوست گنم هغه چې هدیه ورځخه وي. ماهے وغورزیدهٔ. بیا بلقیس وونیل چې مهتر سلیمان په دا خواني او خوبي او دولت هر خوبن خوان وینم وایم چې سلیمان هسې وے لکه دے. ماهے في الحال اوبو ته پریوت ژوندے شهٔ. دا حکایت (۱) مې په دا راوړ کهٔ هر څو وزیر درست (۲) وي غافل ځنې نهٔ وي بل روزگار د سیاست سره وي هغه په دا څو بیته کښې ادا شهٔ. نظم:

سپاہی کہ خوش دل نباشد ز شاہ   ندارد حدود ولایت نگاہ
بر گشتن آنکہ باز و شاہین است   تعجیل مکن اگر چہ خونین است

وزیران او مصاحبان دې بادشاه نهٔ تربیت کوي چې بیا ئې بې پایه کوي. اول شرم د

خپلې دست گرفتگی. دویم د نورو خلقو ناامیدي او بل دې په نا ازمائیلي اعتبار نهٔ کا! چې څو ډیر تجربه نشي او وفاداري څنې ونهٔ شي. بادشاه چې څوک وزیر او مصاحب کوي دا څو خویه پکښې بویه. اول دا چې مخ ئې د خدایے په لور وي. د مه‌ا روزګار له ضروره کا. هغه چې هوا پرست وي حق د خالق په ځایے نهٔ راوړي د مخلوق څهٔ امید. دویم وفادار وي چې په محنت په مشقت بیوفائي ونهٔ کا. دریم دروغ گوئے نهٔ وي. څلورم حق د ولي نعمتانو پیژني او کافر نعمت نهٔ وي چې کهٔ لږه نفع بیامومي ډیره ئې گڼي او شکر او احسان په ځایے راوړي. پینځم زود رنج نهٔ وي چې کهٔ خاطر ئې په لږ ازار شي بدی ته ودرېږي او په کار د خدمت کښې[۱۰] دلسوز وي. مامون (۱) خلیفه خپلو مصاحبانو ته ووئیل چې پخوا تر ما بعضې عالم چې بادشاهانو تربیت کړهٔ وفا ئې څنې بیاموندہ. هر چې ما تربیت کړهٔ بیوفائي کا څهٔ سبب دے یو بزرګ وهٔ هغهٔ ورته ووې قابل د تربیت تربیت کړه. تا غیر قابل تربیت کړل ځکه وفا دې څنې بیا نهٔ موندہ. مامون هغه مرد وته دعائے خیر وکړه. څنې راضي شهٔ وې فرمائیل کشکې پخوا دې خبر کړے وے. قطعه:

یا سردار لره خپل عقل ... یا وزیر صاحب تدبیر
کهٔ هر څو ئې عقل ډیر وي ... بیا هم بویه بنهٔ وزیر
کهٔ نهٔ دا وي نهٔ هغه وي ... په ژوندون ئې بویه ویر
بنهٔ سردار لره دوه کاره ... دائم بویه په ضمیر
یو دې هسې رنګ بخشش کا ... چې پکښې نهٔ وي تبذیر
چې بې ځایه تربیت شي ... د تبذیر لري نظیر
د تازي دې تربیت کا ... په کوته دې نهٔ شي خیر

قطعه

هیڅ ناکس به په تعلیم سره کس نهٔ شي ... دا خبره د دانا شوه را په یاده
سور ازغے به نور څهٔ نهٔ شي سور ازغے دے ... کهٔ په باغ کښې ئې پیوند کړے له فرصاده
اوم دیوال به په کهګل سره پوخ نهٔ کړے ... کهٔ هر څو باندې هنر کوے استاده
اے خاک دران سر که درو مغز وفا نیست ... هنر بے است کسے را که بیوفائی نیست

باعث تالیف کتاب او تهذیب ابواب

مدت متمادي وشهٔ چې په خاطر فاتر به رسیدل چې یو کتاب له فارسی ژبې په پښتو ژبه ترجمه کړم چې په پښتنو ئې لوستل اسان وي. فکر مې وکړ چې هیڅ تواریخ د دې قوم په

ژړ نشته. هم دا تواريخ مې د پښتنو د بادشاهانو له فارسي نه چې په وخت د جهانګير بادشاه د خون جهان لودي په حکم چې د فرزند خان په خطاب سرفراز وۀ (۲) خواجه نعمت الله هروي کړے وۀ ترجمه کړ او هر چې پس له هغه لغايت (۳) د خان جهان لودي لوړے لوړے امراګان د پښتنو تير شوي دي او سرګزشت د کابل د صوبې او حقيقت د خپل قبائل او اولياء الله چې پس له هغه ئې تيغ د ولايت په ميدان د هدايت بلند کړے دے ورسره مې پيوند او ملحق کړ پـ دا سبب چې هر څوک ئې مطالعه کوي احوال د هغو بادشاهانو او امرايانو معلوم شي. احوال د ګزشته عالمو بيانول عبث نۀ وي په دا سبب فرقان قديم په درې دفتره نازل شوے دے. عبادات معاملات او قصص نزول د قصص سبب د عبرت دے د خلقو چې يو له بله پند اخلي. قطعه:

مرد هنرمند خرد پيشه	عمر دو بائيست درين روزګار
تا يکے تجربه آموختے	دګرے تجربه بروے بکار

عمر د سړي يو دے دويم احوال د پيشينګانو دے وپوهيږه چې دا قوم د پښتنو اشراف دے او قابل د هر تربيت چې تربيت ئې وشي په هر کسب کښې سرآمد د هغه کسب شي. خالي د حيا د ستر د غيرت د مسلماني نه نۀ وي. او د سخاوت او شجاعت طالب نامدار پکښې بنۀ شته له دې هنرو خالي نۀ دي. بل اسلام ئې قديم دے جديد نۀ دے په تواريخونو کښې په شجرو کښې د دوئ هر کونه نسب نامې شته. تر نوح او آدم عليهم السلام ئې رسوي. آدم زاد واړه دي. اما يقين دے چې وروستي به ئې وي يا به نۀ وي هغه بيان چې چا کړے دے په خپل وار به راشي. مطلب دا چې د دې قوم په اشرافيت کښې شک نشته ليکن اسراف کوهي او صحرائي له فهم واقع شوي دي. په دا سبب چې کۀ دوئ له خايه تربيت او رزګار ئې د دولت مندانو سره [ا ا] کړے وے چرچه به د علم په دوئ کښې رواج وه. د علم رواج په دوئ کښې کم دے. مګر هومره چې مسلماني ته د دوئ کفايت کا. په دا سبب چې اسلام قديم هغه رواج پکښې مروج دے او خالي بزرګان دين او درويشان علم اليقين نه نۀ دي بنۀ بنۀ بزرګان پکښې تير شوي دي حقيقت به د ديو په خپل ځاے بيان شي. هسې هم ذکر مذکور په نظر راغلے دے چې بني اسرائيل په وخت د بخت نصر جلاوطن شول په هغه سبب مکانونه ئې خپل په کوه و دشت کښې ونيول. بعضې هغه راهسې صحرائي دي او له هغه قومه دي. څوک وائي چې په مخالفت د سلاطينو چې توره ئې د دوئ وبله قائمه شوه د وئ ځاے صحرا او کوه شۀ. په دا سبب صحرائي واقع شول. باب اول ذکر د مهتر يعقوب عليه السلام اسرائيل الله چې دا سلسله او دا طبقه تر دۀ پورې رسي. باب دويم په بيان د

احوال د ملک طالوت او راتلل د دې قوم د غور و کوهستان ته بیا نقل د هغهٔ کړل و کوه سلیمان وته. باب سوئم ذکر خالد بن ولیدؓ تر اخر خلافت امیر المؤمنین عمر خطابؓ دفتر اول په ذکر د احوال د سلطان بهلول او سلطان سکندر لودي او سلطان ابراهیم لودي غفر الله تعالي. دفتر دویم ذکر احوال د شیر شاه او اسلام شاه او بعض پښتنو دفتر سوئم په بیان د امراکان عظیم الشان. دفتر چهارم په بیان د کابل د صوبې د سرگزشت. دفتر پنجم په بیان د غوريِ د خښي له ولایت دې سرزمین ته راتلل. دفتر ششم په بیان د خېل قبائل د سرگزشت دفتر اووم ذکر احوال خوارق عادات او کرامات د درویشانو د دې طائفې چې په مرتبهٔ ولایت رسیدلي وو (۱)

باب اول

ذکر (۱)د مهتر یعقوب علیه السلام چې سلسله د دې طبقې په دهٔ ورخي. وپوهيږه چې حق سبحانه تعالیٰ حضرت مهتر آدم علیه السلام د خاورو له نفسه راپیدا کړ په خلعت نې د نبوت سرفراز کړ "وَ لَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ" د دهٔ په باب نې ووې او په بهشت جاودان کښې نې ودهٔ ته ځاے ورکړ او بي بي حوا نې د دهٔ له کینه بغله پیدا کړه چې له دهٔ سره به همدمه او مصاحبه وه. دوه سوه کاله ابوالبشر په بهشت کښې وهٔ. په روایت د بعضو مؤرخانو درې ساعه وهٔ د اخر روز د جمعې چې یوه ورځ هغه زر کاله د دې وخت وي حکمت الٰهي مقتضي د دې شهٔ چې دا خلقت انساني د پښت د آدمؑ نه وصلب (۲) ته د حوا نقل کا له هغهٔ نه نې په عرصهٔ روزګار دنیا ځرګند کا ابلیس نې وګمارهٔ میوه د شجرهٔ ممنوعه چې عبارت له دانې د غنم نه ده په دوارو نې فریب وکړ پرې نې وخوروله او د بهشت له نعمتونو نې محروم کړل. "فَاخرجوا منها و زوجها"(۳) له جنته و دار دنیا ته منتقل شول. آدم علیه السلام په سرانديپ او حوا په جده پريوتل. ابلیس په زمکه د نصيبين مار په اصفهان (۴) طاؤس په هندوستان پس له هغه بوالبشر تیر سو (۵) [۱۲] کاله له خپله افعاله او اعماله نادم او پښیمان په غرونو رغونو ګرېدهٔ. او همیشه به نې زاري کړه. په دا مدت کښې نې له حیا سرو آسمان ته پورته نهٔ کړ په ژیل د کلمې استغفر الله او شفیع راوړل د محمد رسول الله ﷺ وباخښهٔ شهٔ. "فتلقّىٰ آدم من ربه کلمٰت" توبه نې وکړه او استغفار نې وکړهٔ. او سرور کائنات ﷺ نې شفیع کړ الله تعالي د دهٔ توبه قبوله کړه. په کوه عرفات باندې نې د حوا سره ملاقات وشهٔ. په دا سبب سره هغهٔ غرهٔ وته کوه عرفات وائي چې د دوئ دوارو معرفت په هغه ځاے سره شوے دے پس له ملاقاته نې شکر الٰهي په ځاے راوړهٔ چې په مقام مزدلفه راغلهٔ سره نې مینه محبت واقع شهٔ. ام الحوا بارووره شوه. توالد تناسل ځنې پیدا شهٔ. نُور نبي ﷺ چې په وچولي کښې د آدم علیه السلام وهٔ هغه نُور به لکه برق هسې د دهٔ په وچولي کښې بريښيدهٔ چې د هغه نُور نقل نږدې شهٔ جبرائیل علیه السلام راغے جوئے د روانو اوبو (۲) په زمکه او طباخ نې د بهشت د میو: په لاس راوړ او وې وئیل چې یا ابا محمد علیه السلام السلام علیکم. دا میوه وخوره او په ۵ جوئے کښې ولامبه. او د حوا سره صحبت وکړه چې نن ورځ نقل د نُور خاتم النبیین دے ابوالبشر په موجب د حکم امانت نې په حوا وسپارهٔ. د دوارو تیو ترمنځه نې نمر هسې ځلیدهٔ او په شیث پیغمبر بارداره شوه. پس له میعاده فرزند ځنې پیدا شهٔ هغه نُور نبي ﷺ د دهٔ په وچولي کښې ښکاره شهٔ. آدم علیه السلام شیث د دهٔ نوم کښيښهٔ. ام حوا (۳) به په هر

وار چي بارداره شوه دوه فرزندان به ئې راوړهٔ. يو نارينه يوه ښځه. دا اول وار چي تولد د شيث
وهٔ يوازې خنـې پيـدا شـهٔ. پـه دا سبـب د حضرت نبي د حرمت الله تعالىٰ آدمؑ ته زر كاله عمر
وركـړ يـوهٔ وار حـوا پـه دا مـدت عمر كښې چي شل خله بارداره شوه څلويښت فرزندان ئې
راوړل. نـولـس لـونـه او يـويشـت زويـه. په بل قول يويشت لونه تر اخر ايام حيات د آدم علي
السـلام زويـه نـمسي تر څلويښت زره سرېو پيدا شوي وو. دا دواړه په يوهٔ دين او ملت اسلام
وو چي عـمـر د حـضـرت آدمؑ پـه اخـر شـهٔ شيـث ئې خپل وصي كړ او له دهٔ نه ئې قول عهد
واخسـت چي دا نُور نبوي ﷺ امانت چي خيانت نهٔ كا. د پاكو پاكدامنو ښځو ته دې ئې نقل
كـا. او هـم داسـې شـان دې دا امـانت نقل په نقل رسيږي ضائع دې څوک نهٔ كا. (٣) چي آدم
عليه السلام وفات شهٔ. شيث د دهٔ تكفين او تجهيز وكړ د جدې په غرهٔ كښې ئې دفن كړ الله
تـعالىٰ مراتب د پيغمبر مهتر شيثؑ وته عنايت كړهٔ. نهٔ سوه پنځوس كاله (٥) عمر ئې وركړ
لـه دهٔ فـرزندان ډير شول (٦) (مـگـر نُـور نبـويﷺ پـه وچولي كښې د انوش ښكاره شهٔ. په
روزگار د هغهٔ خلق بت پرست شول) د دهٔ اووهٔ سوه پنځوس كاله (عمر) تير شهٔ. ښځه ئې چي
سـروغ نـوميـده وغـوښتـه له هغې مهلائيل پيدا شهٔ. (او هغه نُور له وچولي د انوش و چولي ته
مهلائيل منتقل شهٔ) او له دهٔ نه يزد پيدا شهٔ. (چي ښهر ئې د يزد پخپله نامه اباد كړ له يزد د مهتر
ادريـس متـولـد شـهٔ او) هـغـه خـازن د نـور نـبـوي ﷺ وهٔ پيغمبر مقرر شهٔ. (او په كافهٔ خلائق
مبعـوث شهٔ) شپږ سوه شپيتهٔ كاله ئې عمر وهٔ. (له هغهٔ ځنې (٧) تيـر سو كاله ئې خلق په لور
لارې د اسلام وبالهٔ او چي عمر ئې اخر شهٔ) له دهٔ متوشلخ پيدا شهٔ (اووهٔ سوه كاله ئې ژندگانه
وه او لـه هغهٔ لمک متولد شهٔ) اتهٔ سوه كاله ئې عمر وهٔ. قيوس (٨) نوميده ارتينه [٢١] په عقد
نكاح ئې كړه. (١) له هغې نه مهتر نوح عليه السلام پيدا شهٔ. له زمانې د مهتر ادريسؑ نه تر بعث
د مهتـر نـوح زر اووهٔ سـوه كـالـه فتور وهٔ. خلائق بت پرست او كافر شهٔ. پس له هغه الله تعالىٰ
مهتـر نـوح عـليـه السلام په خلقو باندې مبعوث كړ. نهٔ سوه پنځوس كاله ئې خلقو ته دعوت
وكړو (٢) نـهٔ گـروهيدلو مگر اويا كسـه بل روايت كښې اوهٔ كسه او د دهٔ له كافرې "ارتينې"
درې فـرزنـده پيدا شو. حام، يافث، كنعان او د بلې ارتينې(٣) نـه ئې سام ابوالانبيا پيدا" شهٔ. (٤)
پـس له هغه چي مهتر نوح عليه السلام د دوئ له ملته له اسلام نااميد شهٔ. (٥) د دوئ په حق ئې
بد دعا وكړه. "رب لا تذر على الارض من الكٰفرين ديارا" (٦) حق تعالىٰ په دوئ طوفان نازل
كـړ (او د عذاب له اوبو ئې نجات بيا نهٔ موند مگر اوو تنو) نوح عليه السلام، سام، حام، يافث
او دريـو ارتيـنـو د دوي. بيـا لـه دوئ تـوالد تناسل پيدا شهٔ. او دا همه خلائق د مهتر نوح علي
السلام (له اولاده) دي. ځكه (٧) دهٔ وتـه آدم ثـانـي وائي. او هغه نُور نبوي ﷺ له مهتر نوحؑ

سام ته انتقال وکړ. له سام نه ارفخشل په وجود راغے او له دهٔ نه صالحٔ (٨) پيدا شهٔ. له صالحٔ نه عبر چې هود النبي (٩) ورته وائي. او له مهتر هودٔ نه ساروغ په وجود راغے او له دهٔ نه سروڼ پيدا شهٔ. او له سروغ ناخور او له ناخور نه تارخ او له هغهٔ نه مهتر ابراهيم خليل الله عليه السلام (١٠) په وجود راغے. بيان د احوال د حضرت آدم عليه السلام او د شيث په کتب په تواريخ په سير په قصصو کښې مذکور دے. مگر بيان د دې چې سلسله د دې نسبونو او د دې طائفې په حضرت اسحٰق عليه السلام او يعقوب عليه السلام تماميږي په دا سبب بيان شهٔ.

هر گاه چې حق سبحانه تعالي په خپل قدرت کامله سره په موجب د "قلنا يا نار کوني بردا و سلاما علىٰ ابراهيم" اور ئې په خليل الله باندې سوړ کړ نمرود له خپلې غرفې وليدهٔ جمع اهل حرم د دهٔ تماشبين وهٔ. په ليدو د دې حال ساره لُور د نمرود وليدهٔ چې اور په حضرت ابراهيم خليل الله گل او ريحان او باغ او بوستان پکښې چشمهٔ آب روان او دے پکښې په طاعت مشغول دے حجاب ئې د کفر و شرک له زړهٔ د سارې لرې کړ په نُور ئې د اسلام نوراني کړه. له خپله پلاره ئې پوښتنه وکړه چې دا زهٔ چې وينم تاسې هم وينئ کهٔ نه؟ نمرود ووې چې هغه څهٔ دي وې وئيل چې خدائے تعالي قادر دے چې گلخن په ابراهيم ئې گلشن کړ. او د اور بخري ئې په دهٔ باندې گلونه کړل. نمرود په غضب شو ورته ئې ووئيل چې تهٔ په ابراهيم عليه السلام مئينه شوې ئې چې د دهٔ خدائے ستائے. سارې ووئيل چې خدائے د ابراهيمٔ بزرگ او قادر دے چې له دې هسې اوره چې تا پکښې اچولے وهٔ وهٔ ئې ساتهٔ. نمرود ووې چې دروم ابراهيم لره ما ورکړے يو د دهٔ خاصانو وهٔ چې ورته ئې ووئيل چې ساره ابراهيمٔ ته ورسوه. خليل الرحمٰن لا له اوره راوتلے نهٔ وهٔ چې ساره ئې ورته ورسوله. اول چا چې پس له اوره وتو په ابراهيم[١٢] ايمان راوړو ساره وه. خليل الله بې بې سارې وته د اسلام هدايت وکړ. دې بې وسواسه او بې ملاحظه ايمان راوړ وې وئيل چې لا اله الا الله ابراهيم خليل الله په موجب د امر د نمرود دا ئې په نکاح کړه. او بعضې مورخان او ارباب سير هسې وائي چې د نمرود لُور نهٔ وه د بل چا وه. پس د اوره د خلاصه خليل الله په امر د نمرود د شام په لور هجرت وکړ. (١) حق تعالي خليل الله د سارې له نسه حضرت اسحٰق ورکړ بلاغت ته ورسيدهٔ. د بني عمالقه ؤ له کوره ئې خواستکارې وکړه له هغې نه دوه فرزندان بغرگوني پيدا شول د يوهٔ نوم ئې عيص کښيښنهٔ د بل يعقوب. چې ابراهيم خليل الله له دنيا رحلت وکړ مهتر سحٰق په مرتبه د نبوت کښيناست. څو ژوندے وهٔ هدايت ئې خلق وته کاوهٔ. (٢) چې وخت د دهٔ د رحلت راغے عيص ئې خپل وصي کړهٔ. حق تعالي عيص لره سرداري او سروري ورکړه. دولت او نعمت ئې ډير شهٔ څو مدت ئې په هغه ملک کښې په عيش عشرت گزران

وکړ اخر په واسطه د حرارت هوا او کم آبی ئې ځاے د پلار نیکهٔ پرېښهٔ په لور د شام و رو
روان شهٔ. چې هورته ورغے آب و هوا ئې خوښه شوه. سکونت ئې اختیار کړ حق تعالی دهٔ لر
فرزندان ډېر ورکړهٔ. (۳) فرزندان ئې په ښهر کښې اباد شول. او په فرزندانو کښې تې بهتر ا
بزرګ تر هغه فرزند وهٔ چې نوم ئې روم وهٔ. او بعضې وائي چې کنعان او مداین هم د د
فرزندانو اباد کړي وو. (۴) او مهتر یعقوب له عیصه په کالونو کم وهٔ. (۵) او عیص صاحب
جمعیت او څښتن د مال وهٔ. خلق به واړه و دهٔ ته رجوع وهٔ. پس له وفاته د مهتر اسحٰقؑ کهٔ ه
څوکوشش به مهتر یعقوبؑ کاوهٔ چې کهٔ عیص و ماته څهٔ مال و متاع د دنیا راکا چې په خاط
جمع سره په طاعت او عبادت د حق تعالي مشغول وم عیص هرګز په دا راضي نهٔ شهٔ. هرکا
چې مهتر یعقوبؑ د ورور له لوري تغافل ولیدهٔ نیت ئې له وروره له موره په بل لور د تلو وشهٔ
له موره ئې رخصت د تلو وغوښتهٔ. مور ئې وفرمائیل چې څه ترور لره چې لبان (۶) نومېړي ږ
شام کښې او ډېر دولت لري او دوه لونه ئې دي. ورشه یوه لور ئې وغواړه. مهتر یعقوبؑ ا
موره رخصت شهٔ. پټ په شپه د عیص له ملاحظې ووت. په هغه سبب د دهٔ نوم اسرائیل ا
شهٔ. یعنې شب رو د شپې تلونے چې و شام وته ورسیدهٔ. ترور ته ورغے ترور ئې په لیدهٔ
خورېي ډېره خوشحاله شوه. یوه ورځ لبان وته یعقوبؑ ووې چې مور راته نصیحت کړے و
چې یوه د ترور لُور وغواړه. لبان ووې چې زهٔ به لُور په دا شرط درکړم چې اووهٔ کاله زه
شپونوالي اختیار کړے. یعقوبؑ قبول کړل. د لبان دوه لونه وے د یوې نوم الیا (۷) د دویم
راحیل (۸) [۱۵] وهٔ. یعقوب راحیل چې شکل ئې بهتر وهٔ (۱) وغوښته. د کابین اووهٔ کا
شپونوالي ئې مقرر کړه. چې پس له نکاح د لویې لُور الیا چې یعقوبؑ وکړه بیا ئې ووې چې ه
راحیل غوښتې وه نه الیا. لبان ووې چې قاعده نهٔ ده چې لویه لُور په کور کښې لرې کمه ل
ورکوي. کهٔ دا بله لُور هم غواړے دا به هم درکړم په دا شرط چې اوهٔ کاله شپونوالي نو
قبول کړے. یعقوبؑ هغه هم قبول کړ. دواړه خویندې ئې په حکم د شریعت چې په هغه وخت
وهٔ په نکاح ئې کړے. پس له هغې چې عیص د یعقوبؑ د تلو خبردار شهٔ له خپله تغافله پښیما
شهٔ. د ورور له تلو به ئې پښیماني کوله سود ئې نهٔ وهٔ. او مکرر خطونه ئې واستول، یعقوبؑ ئ
وبلهٔ چې یعقوبؑ وپوهیدهٔ چې دې مې ډېر په مینه بولي ور روان شهٔ. له کوره سره راغے چ
نزدې هغه ملک له ورغے خپلو هلکانو ته ئې ووښیل چې هر څوک له تاسو پوښتنه وکا چ
څوک یاستئ او له کومه راځئ. تاسو ورته ووایئ چې یعقوبؑ نومېړي غلام د مهتر عیص د
په اراده د ملازمت د خپل صاحب راغلي دے. مونږ د دهٔ له وابسته ؤ یو. اتفاقاً هغه ورځ چ
یعقوبؑ داخلي وهٔ عیص و ښکار ته وتلے وهٔ دا ئې لیدل چې یوه جمع مسافران له لرې خل

راخي او ګـلـه د بـزو ورسـره ده او اثـر د سفر په وچولي د دوی ظاهر دے. اس ئې هغه لور ته رواه کـړ وې پـوښتيـدل چې تاسو څوک ياستئ او له کومه رادرومئ او چرته به دروميئ. دوی ورته پـه موجب د وصيت د يعقوبؑ جواب ورکړ. چې يعقوب نومے د مهتر عيص غلام دے او هـغـنسره يو. عيص چې نوم د يعقوبؑ واوريدۀ په مجرد د ورور د نوم په اوريدو له اسه کوز شۀ او وې وئيل چې يعقوبؑ زما د ستر ګو تور دے. ورور زغاښت ورور ئې په بغل کښې ونيوۀ. په سـرمـخ ئې کښـل کـړ او رنـګـارنګ مهـربـانـي او تلطف ئې پرې وکړ. ښۀ خاے ئې ورته د استوګې مقرر کړ بله ورځ ئې تمام مال اموال يوولس حصې کړ لس حصې ئې خپلو زامنو له ورکړے او يوه حصه ئې يعقوبؑ لره ورکړه. (۲) حضرت يعقوب عليه السلام په جمع خاطر په عبـادت د حـق تـعـالـيٰ مشغول شۀ. په کنعان کښې ئې سکونت ونيوۀ. پـس له هغۀ حق تعالي په مـرتبـه د پيغمبری کښيناوۀ او د روم (۳) پـه مـلـک ئـې مبـعوث کړ او صاحب تاريخ قصص الانبياء پـه دا شـان وئـيـلي دي هر ګاه چې مهتر اسحٰقؑ په سبب د پيرانه سالی له ستر ګو د ليدو عـارن شـۀ له همه فرزندانو ئې عيص دوست تر ليدۀ. او په يعقوبؑ مور ډيره مهرباني کړه. يوه ورځ مهتـر اسـحٰقؑ عيـص ته ووې چې زما دپاره څورب صيد کباب کړه راوړه چې تا وته دعا وکـړم چـې حـق تـعـالـيٰ تا وته پيغمبري درکا. عيص په اميد د پلار د دعا ښکار ته لاړ شۀ چې څـورب صيد راوړي کباب کا. د مهتر يعقوبؑ والده وپوهيده چې د دۀ دعا قبوله ده چې د مور مينه به يعقوبؑ وه (۴) ورتـه ئـې [۱۶] ووې چـې تر هغۀ وړاندې چې عيص راشي بزه څورب کبـاب کـړه راوړه چـې پيـغـمبـر خـدا دعـا دې تا په باب وکا. يعقوبؑ په موجب د نصيحت د والـدې څـورب بره کباب راوړۀ او ځان ئې څرګند نۀ کړ. مهتر اسحٰقؑ په رغبت تمام سره هغه کبـاب وخـوړ. لاس ئـې پـه دعـا پورته کړۀ. التماس ئې وکړۀ چې الٰهي دما فرزند په پيغمبری مبـعوث کـړه. پـس د مهتـر اسـحٰقؑ له دعا مهترِ يعقوبؑ پلار لره راغـے. ښې ئې د پلار کښل کـړے. مهتـر اسـحٰقؑ وپـوهيدۀ چې دعا د مهتر يعقوبؑ په باب مستجاب شوه. (۱) په دا ميان عيـص لـه ښـکـاره راغـے حـقيـقـت ئې معلوم کړۀ. له مهتر يعقوبؑ سره ئې دښمني آغاز کړه. نسبـت ئـې د بـرادری پـه عـداوت مبـدل شـۀ. هـر ګاه چې مهتر اسحٰقؑ وپوهيدۀ چې عيص له ورور دسـره پـه کـمال خصومت او عداوت شۀ عيص ته ئې ووې چې خاطر جمع لره چې ما له خـدايه غـوښتـې دي چې نسل دې تا زيات کا او ډير پيغمبران دې تا له نسله پيدا شي. د مهتر اسـحٰقؑ په دعا هغه ولايت درست د دۀ له فرزندانو ډک شۀ. الله تعالي څونسوه (۲) پيغمبران د دۀ لـه ولاده پيـدا کـړل. هـر ګـاه چـې مهتـر اسـحٰقؑ وفات بياموند مهتر يعقوبؑ به د عيص نه هميشه متوهم وۀ په هغه سبب په رخصت شام لره لاړ شۀ. (۳) القصه الله تعالي پس له رسالت د

مهتر يعقوبؑ له دوارو ارتينو او له دوؤ وينځو دولس فرزندان كرامت كړل. په دې تفصيل يهودا، رونيل، شمعون، لاوي، مانون او شجر دا شپږ زويه له اليا چې مشر كور وه پيدا شول. او يوسف، بنيامين له راحيله او د راحيل وينځه وه زنفه نوميده هغه ئې مهتر يعقوبؑ ته بخښلې وه له هغې نه قفلان او دان او له بلې خدمتګارې نه ضياد او سيرې په وجود راغلل. (۴) هر كاه چې عيص او مهتر يعقوبؑ توامان وو يعنې بغركون سل څلويښت كاله ئې عمر وۀ. په يوه ورځ وفات شول. او په يوۀ قبر كښې ايښې شوي دي. هر كاه چې مهتر يعقوبؑ الله تعالي په اسرائيل الله خطاب سره سرفراز كړے وۀ. دولس طبقې د دۀ له اولاده په بني اسرائيل يادې شولې. او مشر فرزند د مهتر يعقوبؑ يهودا وۀ چې سلسله د شپنو دۀ ته رسيږي. او دے خوان وۀ په جميع هنرونو آراسته وۀ. په شجاعت په سخاوت يګانۀ روزګار وۀ. او له جمع د دنيا له روزګاره د خدايے په لور ولاړ وۀ او هميشه به په طاعت په عبادت د حق تعالي مشغول وۀ. په پيغمبرى سرفراز شۀ. (۵) او پروردګار حقيقي دۀ لره څو فرزندان كرامت كړل. د يو زوې نوم ئې اسروغ كښيښۀ. هر كاه چې بالغ شۀ د لاوي له اولاده ئې بن يعقوب (۶) صبيه ورته په نكاح كړه. او پس له خپله وفاته ئې اسروغ خپل وصي كړ. پس له هغۀ الله تعالي اسروغ لره فرزند وركړ د هغۀ ئې خنوخ نوم كښيښۀ او له خنوخ مهلب او له مهلبه قالع متولد شۀ. او له قالع قيس سارول پيدا شۀ هغۀ ته طالوت وائي. لكه بيان به ئې وشي. (۷)

باب دويم په بيان د ملك طالوت او د تابوت سكينه وررسيدل د دۀ [۱۷] په امارت د بني اسرائيل لكه انتها د دې سلسلې او طبقې د پښتنو و دۀ ته رسي. هر كاه چې بني اسرائيل په بيت المقدس او ولايت شام كښې سكونت ونيوۀ او په هغه ملكونو باندې ئې اولاد ډير شۀ او د دنيا دولت ئې ډير شۀ له امره نهي ئې لاس واخستل په ظلم په تعدي په فسق په فساد ئې ملا وتړله. او د بيت المقدس له مرمته غافل شول. حق تعاليٰ فرعون په دوئ مسلط كړ (۱) چې دوئ ئې واړه په بند كښې غلامان كړل يوه جماعه ئې له دوئ په خپل خاصه خدمت مقرر كړل او په خپل دين ئې دعوت كړل يو جمعې جفا د فرعون قبوله كړه اما د خپل نيكۀ له دينه ونۀ جاروتل. فرعون چې له دوئ نااميد شۀ واړه فرزندان د هغې جمعې چې منكر د دين فرعون وو په خدمت ئې تربيت كړل او خپل دين ته ئې رجوع كړل. دوئ د پلار نيكۀ له دينه خبردار نۀ وو پيروي ئې د فرعون د دين اختيار كړه داخل ګروه قبط شول. او د سبط له قومه ووتل. چې څو كاله بني اسرائيل د فرعون بندګي وكړه محنت او جفا پرې ډيره تيره شوه هر ساعت به ئې په درګاه د باري تعاليٰ مناجات كاوۀ چې د فرعون له قيده خلاصے بيامومي. الله تعالي پ عجز او مسكنت د بني اسرائيل رحم وفرمايۀ. حضرت موسيٰ كليم الله ئې په فرعون راستوۀ

مهـر مـوسـيٰؑ خـلـوينت كاله په امر د خدایے تعالي دعوت ئې د اسلام كاوهٔ له جهل جبلي نه جا ووت. حق جل و عليٰ له جماعه ئې قبطيانو سره د رود نيل په درياب كښې غرق كړ لكه په تـفسيرونو كښې مذكور دي.(۲) د مـوسـيٰؑ كـليم الله په دعوت او په حكمت حكومت د هغه قوم مقرر شهٔ. پس له څو ګاهه چې بني اسرائيل استعداد د مال دنيا بهم ورساوهٔ په مهتر موسيٰؑ وحي راغله چې لښكر د بني اسرائيل په لور د اليا او اريحا او بلسا (۳) چې دا درې واړه ښهره د فلسطين لـه مـلـكه وو چې باشنده د هغو ښهرونو كافر او مشرک وو واستوه چې دا درې ښهره مسلمان شي بهتر او كهٔ سر كشي وكا په قتل ئې ورسوئ. مهتر موسيٰؑ كتخدايان د بني اسرائيل جمع كړهٔ. امر ئې د الله تعالي ورته بيان كړ. بني اسرائيل انقياد د امر الٰهي په ځاے راړ مـلا ئې د جهاد وتړله په نيت د غزا د عمالقه ؤ په لوري متوجه شول. هر ګاه چې كليم اللهٔ عرض د سپاه طلب كړ بني اسرائيل دولس فريقه وو. هره يوه فرقه يو لک پينځهٔ ويشت زره سوارهٔ خوانان خبردار او كـارګـزار وو جمله پينځلس لكه سوارهٔ شي (۴) مـوسيٰ كليم اللهٔ موجه هغه ملک ته شهٔ په هغه لارې يوهٔ ځاے ته ورسيدهٔ چې كمے د اوبو وهٔ. وحي راغله چې په دا منزل يو درياب دے چې اوبهٔ نهٔ لري. بائده دي چې تهٔ د واړو نه د وړاندې هغه درياب ته ورسے او دعا وكړه چې چينې خنې جاري ځنې څرګندې شي په دا شرط چې تر تا وړاندې په هغه چينه كښې لاس ور نهٔ وړي. موسٰيٰ په موجب د امر منادي وكړه. بني اسرائيل چې په هغه مک ورغلل خبره د پيغمبر خداے فراموشه كړه. [۱۸] په اوبو كښې ئې لاس وروړ مګر تير سو(۱) ديرلـس تـنه حق تعالي په بني اسرائيل غضب شهٔ. هغه اوبهٔ د دوئ په سينه كښې كاني شو ډير مړهٔ شول. هر ګاه چې نزدې و عمالقه وته راغلهٔ دولس كسه ئې د قوم له سردارانو په حريقه د لښكر د خبر ګيرى ورستول يوشع بن نون له هغه جمله ؤ نه يو وهٔ (۲) ناګاه دوئ عوج (۳) بـن عـنـق وليـدهٔ لـه دوئ ئې پوښتنه وكړه چې څهٔ لره راغلي ياستئ وې وئيل چې د لښكر خبر اخستو ته د عمالقه ؤ راغلي يو. دولس كسه ئې په موزه كښې د پښې واچول كور ته ئې يوړل د كـلـي د كـور د وړاندې ئې وغورځول. واني چې وې وئيل چې دا قوم دې مونږ په جنګ راغلـے دے. د دولسـو واړو اراده ئې د كشتن وكړه. عالمو ورته ووې چې د دوئ له وژلو څهٔ بائده نـرے. پـريـږده چـې دا خبـر او دا حقيقت حال لښكر وته بيان كا. عوج دوئ رخصت كړل. واني چې قد قامت د عوج درې زره تير سو (۴) خـنګل وهٔ. او مور ئې د آدمٔ نمسى (۵) ه. د نوحٔ پـه طوفان كښې اوبهٔ د دهٔ تر سينې د پاس نهٔ وے او په درست كال كښې به يو خل صحرا ته لاړ شهٔ ګيلوے به ئې د لرګيو راوړ اهل ښهرو به خونه په خونه د يوهٔ كال لرګي ځنې راخستل او هـر يـوهٔ كـور بـه يو طباخ د طعام دهٔ ته ورستوهٔ چې خوراک به د دهٔ كيدهٔ. القصه

هغه دولس کسه چې د دۀ له لاسه خلاص شول له خانه سره ئې ووئيل کۀ بني اسرائيل د عو
له کوائف چې دۀ وته به ئې عاد هم وئيل خبر شي بې دله به شي. د دوئ په جنگ به را نۀ شې
بهتر دا دي چې دا احوال پټ کړو پس له هغۀ دوؤ کسو له هغو راز فاش کړ جماعه د بـ
اسرائيل بيدل شول چې مونږ به له دې هسې خلقو سره جنگ نۀ شو کړے. پس بني اسرائې
و مهتر موسي عليه السلام ته ووئيل چې تۀ حق تعالي وته عرض وکړه. (٦) په دا ميان کښـ
وحي راغله چې يا موسيٰ ! پاخه په جنگ شه چې قتل د عوج مې دې تا په لاس مقرر کړ
دے. مهتر موسيٰ په موجب د حکم الٰهي متوجه د جنگ شۀ. هغۀ بدبخت يوه پارچه د غ
راواخسته چې د مهتر موسيٰ په لښکر باندې واچوي. د خدامے تعالي په فرمان هدهد راغ
هغه غر ئې سورے کړ د دۀ په غاړه کښې بربوت. مهتر موسيٰ وروړسيد. څلويښت گز
قامت د مهتر موسيٰ وۀ. او بعضې ديرش گزه وائي او څلويښت گزه ئې بلندي د همسا و
مهتر موسيٰ په قوت د نبوت وواهۀ. ئو که د همسا د دۀ بښنگري ته ورسيده. بې اختياره فر
کنان په زمکه ولگيد. خان ئې په مالکانو د جهنم وسپارۀ. کليم الله وفرمائيل چې سر دې ئې
تنه جدا کا. پونسو (٧) کسو په ضرب په څلور ورځې کښې له تنه جدا کړ گروه د عمالقه
واړه قتل شول او بعضې اسير شول. مهتر موسيٰ متوجه د هغو دريو ښهرو شۀ. (٨) چې
نواحي [٩ ١] د اليا ورسيدۀ برصيصا نوميدۀ بلعم باعور هم ورته وائي په هغه قوم کښې
زاهد وۀ چې مستجاب الدعوات وۀ. دعا به ئې قبوله وه. بني اسرائيل وته ئې بده دعا وکړه.
شومي د هغه دعا ئې بد د قيامت په ورځ به د سپي پوست د اصحاب کهف و دۀ ته و
اغوندوي دوزخ ته به ئې روان کا او پوست به د برصيصا په هغه سپي چې د اصحاب کهف
دے وراغوندوي جنت ته به ئې روان کا. خدامے تعالیٰ په دعا د هغه زاهد څلويښت کاله بني
اسرائيل په بيابان کښې له تلو پاتو کړل. هر صباح به ئې له خپله مقامه کوچ کړ. تمامه ور
به په لارې تللۀ بيا به په وخت د بيگا په هغه ځاے په هغه مقام وو. هم په دا حال دري ديرش
کاله په محنت او سرگرداني کښې وو. کليم الله هم په دا محنت کښې شريک وۀ. او والله
د من والسلوي هم په دا مقدمه کښې وه. (١) او هر گاه چې به دوئ تږي شول له مهتر موسيٰ
به ئې اوبۀ وغوښتے وحي راغله چې کاڼي په همسا ووهه حضرت موسيٰ همسا په کاڼ
ووهله. دولس چشمې سرې اوبۀ خوږې ځني رواني شوې. د هرې ټبې چينه جدا جدا وه.
دا سبب چې دوئ دولس ټبې وو. هر گاه چې مهتر موسيٰ له هغه دشته له خپله قومه سر
ووت. قصه ډېر درازه ده. په تواريخو کښې کښلي دي چې مهتر موسيٰ وفات کيدۀ مهتر
يوشع بن نون بن افرائيم بن يوسف بن مهتر يعقوبؑ ئې خپل وصي کړ. پس د مهتر موسيٰ ا

ما ته یوشعؑ ته الله تعالیٰ پیغمبري ورکړه. دهٔ هم بلا و محنت چې الله تعالي په قوم د بني اسرائیل مقرر کړې وهٔ له دوئ سره تیر کړهٔ. چې عمر د مهتر یوشع په سل شلو کالو ورسیدهٔ کالب بن یوفنا بن افرائیم بن مهتر یوسف ئې جانشین خپل کړ. دهٔ ته هم الله تعالیٰ پیغمبري ورکړه. بني اسرائیل پس له څلویښتو کالو بیا مصر لره راغلهٔ په کوررونو خایونو کښې د قبطیانو چې په هغه ځاے کښې ئې بني اسرائیل په بردګۍ نیولي وو. له هغو پس بني اسرائیل به حکومت و نعمت روزګار کاوهٔ او ښهر ئې د مصر بیا سره نوي عمارتونه کړل. (؟) هرګاه چې د بني اسرائیل بیا استقرار او استقلال تمام په مصر پیدا شهٔ مهتر کالب هم په جوار رحمت حق ورسیدو پس له کالب حزقیل د یهودا له اولاده بن د مهتر یعقوبؑ ته خداے نبوت ورکړ چې دهٔ ته به ئې ابن العجوز وئیل او دهٔ ته به ئې ذي الکفل هم وئیل. په دا سبب چې اویا پیغمبرانو ته ئې کفالت کړې وهٔ. یعنې ضامن شوې وهٔ خلاصې ئې د کفارو له قیده ورکړې وهٔ. باري تعالیٰ اویا زره مرده په هغه عوض د دهٔ په دعا سره ژوندي کړهٔ او شرح بیان د هغې قصې په طریق د اجمال دا دې. یو کلې وهٔ په هغه ملک کښې چې اورد نومیدهٔ الله تعالي په هغه کلي کښې طاعون او وبا نازل کړهٔ. بعضې له ویرې له کلیه بیرون ولاړل او یو ګروه په هغه ښار کښې پاتو شول. هغه چې په ښهر کښې پاتو شول هلاک شول. مګر یو څو کسه چې تښتې وتلي وو بیا ښهر ته راغلهٔ او سلامت پاتو شول. هغه د ښهر سرپو چې دوئ سلامت پاتیدل له خانه سره به ئې وئیل کهٔ مونږ هم ورسره لاړ وې. [۲۰] سلامت به پاتو وو. بل کال بیا چې طاعون شروع شهٔ عامه خلق واړه له هغه ښهره بیرون شول چې ونهٔ مري هرګاه هغه ځاے ته ورسیدل چې حیات او خلاصي دوئ پکښې لیدهٔ. باري تعالیٰ دوه ملائک ورستول. یو په هغه دره کښې چې دوئ جمع وو یوه پاسه یوه کوزه اواز ئې وکړ په هغه دره کښې چې جمع وو واړه په یو ساعت مړهٔ شول. حزقیل د الله تعالیٰ نه خواست وکړ چې باري خدایا زهٔ په هغه قوم کښې وم چې همیشه به ئې ذکر دې تا د نامې کاوهٔ او ممد او معاون دې ما وو تا دوئ له ما بوتلل زهٔ دې یوازې پریښوم. حق تعالي وحي په دهٔ راستوله چې مرګ ژوندون د دوئ دې تا په لاس دې. حزقیل ووې چې قومه ژوندي شئ په امر د خداے تعالي همه ژوندي شول او وې ویل "سبحنك ربنا بحمدك لا اله الا انت" دوئ اویا زره کسه وو خپل مقام کلي ته راغلهٔ د خپل قوم سره یو ځاے شول. اما رنګ د دوئ د مخ لکه د مړو هسې شوې وهٔ هرګاه چې به ئې جامې واغوستې لکه کفن هسې به شوې. او مهتر حزقیل ډیر مدت په هغهٔ قوم کښې وهٔ. پس د حزقیل له وفاته (۱) ډیر مدت متمادي خداے تعالي مهتر اشموئیل بن دیان بن علقمه بن لاوي بن یعقوب علیه السلام ته پیغمبري ورکړه. او بني اسرائیل وته ئې راستوهٔ. (۲) واني

١

چې اشموئيل يو هلک د بني اسرائيل له علماؤ پرورش کړے وۀ. د دۀ به وخت يو فتور په بنې اسرائيل کښې پيدا شۀ او مخالفت پکښې وشۀ. کبيره ګناهونه تر حد زيات پکښې وشول باري تعالي يو لوے کافر چې مسابا (٣) نې نوم وۀ د جالوت له قومه او متابعان د دۀ چې په ساحل د دريائے روم او مصر او فلسطين ميان ئې ځاے وۀ وسيدل او د عمالقه ؤ له ګروهه وو په بني اسرائيل باندې مسلط کړ چې ملک ئې د بني اسرائيل واخست او د بني اسرائيل لا فرزندانو ځونسو ځلور هلکان ئې په بند بوتلۀ. تابوت سکينه چې مدار کار د بني اسرائيل تما په دۀ وۀ هغه ئې هم له دوئ رانيوۀ يو ئې وړ. هغه تابوت سکينه څۀ څيز وۀ؟ تابوت وۀ شمشادو د لرګي چې د همه پيغمبرانو صورتونه پکښې کښلي وو په اوږدۀ درې ځنګلې او په سارۀ دوه ځنګل وۀ. حق تعالي په مهتر آدمؑ باندې له بهشت راستولے وۀ. او مهتر آدمؑ په وخت د رحلت مهتر شيثؑ ته سپارلے وۀ. هم دا رنګ تر مهتر موسيٰؑ پورې راغلے وۀ. او په روايت د ابن عباسؓ طشت وۀ د سرو زرو چې د انبياؤ زړونه پکښې وللي وو او په قول د مجاهد صورت وۀ لکه پيشو سر او لکی ئې وه. او دواړه سترګې ئې لکه دوه مشالونه ا وچولے ئې له زمرده وۀ. چا به طاقت د دۀ د ليدو نۀ لارۀ او مخ ئې لکه د آدم هسې وۀ. په وخت د جنګ به لکه تُند باد هسې غورزيدۀ. غليمان به ئې متفرق کول. هرګاه چې بنې اسرائيل به اواز د دۀ اوريدۀ پوهيدل به چې فتح دې مونږه د لوريه ده. او [١ ٢] د جنګ په ورځ تابوت به ئې د ځان د وړاندې ايښے وۀ. هرګاه چې روان به شۀ دوئ به پسې تلۀ او چې ! ودريدۀ دوئ به هم ودريدل. وهب بن منبه وائي امر وۀ د خداے تعاليٰ له امرونو نه خبرې به ئې کړے او هر چې به مشکل پيښ شۀ واړه به ئې په شرح بيان کړ او په قول د ابن عطا ا خرګندو نښانونو نه وۀ. دوه پارچه لوح د توريت او همسا د موسيٰؑ او دستار او پائيزار هارون (١) او يو اوړے د پيمانې د من و سلويٰ په هغه تابوت کښې وو. (٢) القصه حق تعالې پيغمبر اشموئيل مبعوث کړ. (٣) بني اسرائيل وته ئې ترغيب او تبليغ د اوامر او د نواهې ورساوۀ قبول ئې نۀ کړ. او وې ويل چې ووړکے ئې لائقت د نبوت نۀ لرے. او کۀ تۀ رښتې وائے هغه خداے چې تۀ ئې په نبوت راستولے ئې دۀ وته خواست وکړه چې يو بادشاه هم دې مونږ پيدا کا په اتفاق د دۀ د جالوت سره چې قومٔ د عمالقه دے چې بقيه د قوم عاد پاتو شوے دے او بت پرستي کا او د بني اسرائيل سره خصومت کا ورسره جنګ وکړو چې دې تالا په نبوت دليل وي. دا سوال ئې په دا سبب وکړ چې انتظام د بني اسرائيل به په بادشاه وۀ ا شوکت او رونق به د بادشاه د کار په طاعت او عبادت د حق تعاليٰ او اطاعت او فرمان بردار: به د پيغمبر کيده. او قاعده هسې وه چې سپاه او لښکر به د بادشاه په حکم وۀ او بادشاه ا

لښکر بـه ئـي په حکم د پیغمبر وۀ چې بندوبست د ملک به ئي په حکم د توریت قائم ساتۀ. خـدایے تـعـالیٰ پـه دا هـمـه عـلـم چـې پیغمبرانو ته ئي عطا کړے دے. بادشاهانو به د دوئ په مشـورت کـار کاوۀ د دوئ له صلاحه به بیرون نۀ وو. القصه مهتر اشموئیل په موافق د استدعا د بـنـي اسرائیل په درگاه د باري تعالیٰ دعا وکړه. في الحال وحي راغله یوه همسا یو لښکر ئي راوړ او وې ویـل چـې بادشاه چې تۀ غواړے هغه سړے دے چې قد د دۀ په دا همسا برابر وي. او چې هـغـه مرد وي ځاے ته راننه ووځي له دۀ به غوړي جوش وکا. څخو له دې غوړو د دۀ په سـر ومږه لکه تاج هسې به شي. دې به بادشاه په مال او په ملک ونیسئ. او هر یو له بزرگانو د بـنـي اسـرائیـل د مهتر اشموئیل کره به راتۀ او منتظر به وۀ چې فرمودۀ الٰهي به کله په ظهور راشـي او کوم بویه په دا دولت مقرر کیږي (۴). قیـس ئي نوم د بن یمین له اولاده وۀ ابن مهتر یـعقوبؑ او په قول د حمد الله مستوفي صاحب تاریخ گزیده او محمد بن اسحاق جریر الطبري د یهـودا لـه اولاده بن مهتر یعقوبؑ وۀ. (۵) وانـي چـې دې ډیـر مفلس وۀ همگي څلور میږې د پـلار لـه میـراثـه ورته رسیدلې وې. قیس هغه میږې زوي لره ور کړے چې په عبرانی کښې ئي نـامـه سـاروول وه او پـه دا سبب چې په قد قامت اوږد وۀ دۀ ته به ئي طالوت وے. (۶) د طالوت اوږدۀ غـوړونـه وو چې په هغو به ئي اوبۀ د رود نیل راوړے او خرڅولے به ئ. قوت به ئي خپل لـه هـغـه خـرڅـه کاوۀ. یوه ورځ په اتفاق د پلار د مور سره ئي میږې څرولو ته بیولې وې. هغه ورځ بـرق او بـاران ډیـر وریـدۀ میـږې له دوئ نه په دا سبب د باد و باران [ ] ورکې شوے. طـالـوت چـې حـال د پـلار ورتـه مـعـلـوم وۀ چې مفلس دے چې په ورکیدو د دیو میږو به ډیر پـریشـان خاطر شي هر لور ته زغابنت تفحص او تجسس به ئي کاوۀ. ناگاه گزر ئي په محله د مهتـر اشـمـوئیل وشۀ هغه مریے چې ورسره وۀ وې وئیل چې راشه چې دې پیغمبر د خدایے لره ورشو. شـایـد چې دے په هغه بنکر په هغو غوړیو مونږ وته دلالت وکا پس طالوت په اتفاق د هـغـه غـلام د مهتـر اشـمـوئیل کور ته ننوتل هغه روغن له بنکره په یوۀ ځل په جوش راغلو چې مهتـر اشـمـوئیل په بني لوري د خپل ځان وکتل وۀ ئي لیدل چې دوه کسه بني اسرائیل په ورۀ ولاړ دي. مهتـر اشـمـوئیـل وپـوښتیـدل چـې تـاسو څوک یاستئ. طالوت ورته ووئیل چې زۀ سـاروول الـمـلـقـب په طالوت یم او دا غلام دې ما د پلار دے. مهتر اشموئیل وپوهیدۀ خو چې هـغـه غوړي ئي د دۀ په سر ومښل په شکل د تاج شول او خپل ځاے وته وخوزیدل. پـس مهتر اشـمـوئیل ووې حق تعالیٰ تۀ په بادشاهی د بني اسرائیل مقرر کړے. طالوت ووئیل اے پیغمبر خـدایے پـه بـنـي اسـرائیل کښې زۀ په مرتبه کمتر یم او کور دې ما حقیر تر او اهل بیت دې ما ضـعیف. سـلطنت وته یو شان او شوکت بویه چې خلق ورته سر کوزوي. مهتر اشموئیل ووئیل

د خدایے تعالي په حکم کبني تا وته اختیار نشته. "یفعل الله ما یشآء و یحکم ما یرید"
طالوت وویل په دا باب یو دلیل او برهان بویه. مهتر اشموئیل ووې دلیل دا دے چې کور ت
ورشے پلار به دې ورکې شوې میږې بیاموې. طالوت په تمام امید کور ته لاړ شهٔ. وې لیا
چې پلار ئې ورکې شوې میږې موندلې وے. تصدیق ئې د مهتر اشموئیل د خبرې وکړ زړ
ئې په فرمانروائي متوجه کړ. مهتر اشموئیل واړه بني اسرائیل جمع کړهٔ او وې فرمائیل چ
باري تعالي طالوت په بادشاهي راستوهٔ. بني اسرائیل ابا (۱) راوړه او وې ویل چې د د
حکومت په مونږه نهٔ بویه چې له دهٔ قابل تر او سزاوار تر په بادشاهي یو چې معتبرې په بن
اسرائیل کبنې دوه تبې دي. یوه تبه د نبوت او بله د مملکت، او نبوت (۲) په ګروه کبنې
لاوي ابن مهتر یعقوبؑ قرار موندلے وهٔ. لکه مهتر موسي علیه السلام او هارون او یوشع ا
الیاس او الیسع او اشموئیل او (۳) تمامي انبیاء د بني اسرائیل له دې تبې وو مګر داؤد ا
سلیمان او مملکت په سبط د یهودا ابن مهتر یعقوبؑ مقرر شوے وهٔ. نو داؤد او سلیمان ا
تمامي ملوک د بني اسرائیل له هغه تبې وو مګر داؤد او سلیمان لره نبوت او بادشاهي دواړ
ورکړل شوي وو او نورو ته نهٔ وو میسر. او حق تعالي دغه دوه درانهٔ امره جمع نهٔ کړل مګ
په شپږو پاکو جسمونو او سپیڅلو بدنونو د انبیاء کبنې او هغوي لکه چې بانده وو د دیو دو
عالي قدرو امرونو په ادا کولو قائم وو او هغوي حضرت آدمؑ او موسیؑ او داؤدؑ او سلیمانؑ ا
یوسفؑ او خاتم النبیین صلوٰة الله علیهم اجمعین دي. او تمامي بادشاهان د بني اسرائیل د یهو
له تبې وو او طالوت په یوهٔ قول له اولاده د ابن یمین او په یوهٔ روایت له اولاده د یهودا دې
او په سبب د معاصي چې له سبطه د ابن یمین واقع شوي وو حق تعالي په دوئ غضب وکړ نو
ئې د دوئ له دیوانه د ملوکانو محو کړ او هر ګاه چې مملکت ئې له لاسه ووت او قابلیت ا
استحقاق ئې د وحي د ملک (۴) علي الاطلاق نهٔ درلهٔ. نوم ئې د دوئ سبط الاثم کړ خکه بن
اسرائیل ووې چې سلطنت ته یو شان او وقار بویه. [۲۳] او دا مرد اګرچې کهٔ دې مونږ
اقرباؤ او عزیزانو دے اما په فقر او په احتیاج مبتلا دے. او سزاوار د سلطنت نهٔ دے. هس
شخص بویه چې نعمت او دولت او په شوکت کبنې بل ته محتاج نهٔ وي هالهٔ به ئې حکم
مونږ جاري او روان شي. مهتر اشموئیل طالوت خپل کور وساتهٔ او په غمخوارۍ او پرورش
ئې سعي فرمائیله او بني اسرائیل ته ئې له غضبه او له قهره د پروردګار تهدید کاوهٔ. هر ګاه چ
مبالغه له حده تیره شوه. بني اسرائیل له غضبه د قهار وویریدل واړه صنادید او اعاظم د دو
جمع شول او مهتر اشموئیل ته راغلل او وې ویل چې کهٔ دا امر له جانب د پروردګار وي او
ئې په استجرا او نفاذ مامور ئې مونږ هم له قهره او له غضبه د حق تعالي ویرېږو چې مبادا ا

شومي دي تا د نارضامندی او د خداوند تعالي په مونږ نازل شي. (۱) کهٔ دا امر له جانبه د حق تعليٰ وي پس طالوت دې په درګاه د ايزد کارساز التماس وکا او تابوت سکينه دې طلب کا(۱) کهٔ په التماس د دهٔ تابوت سکينه مونږه ته بيا عنايت شي مونږ به سلطنت د بني اسرائيل و دوته مسلم او مفوض کړو. هرګاه چې مهتر اشموئيل له وحي واقف او آګاه وهٔ په هر امور مشکل چې طالوت التماس کا په معرض به دې قبول مقبول شي. په دا معني ئې له بني اسرائيل قول او اقرار واخستهٔ چې په راتلل د تابوت له خپله قوله او له اقراره نهٔ جار ووځي. مهتر اشموئيل وفرمائيل چې اې طالوته چې هرګاه چې شپه اخر شي په درګاه د پروردګار التماس د حاجت وکړه او خود هم په هغه وخت حاضر شهٔ په موجب د طالوت د دعا ناګاه تابوت له هوا په حضور د مهتر اشموئيل راکوز او په زمکه استاده شهٔ. هرګاه چې مهتر اشموئيل عنايت د حق تعاليٰ په باب د طالوت دوباره مشاهده کړ سر ئې په سجده کښيښهٔ. وائي هرګاه چې کړه د جالوت د کافرانو دا تابوت له بني اسرائيل يوړ لوے فخر او پايه ئې په قوم پيدا شوه او يو د بله ئې ووې چې بني اسرائيل ته په يُمن او برکت د دې تابوت خير او خيريت او فتح او نصرت حاصل وو. او مونږ په بلا دې وبا او طاعون ګرفتار شو. بهتر دا دے چې مونږه دا تابوت په ډيران په مزبله کښې واچوؤ بله ورځ جمع شول او تابوت ئې واخست او په ډيران ئې واچوهٔ. بلا د غضب په دوئ مخ په زياتي ونيوهٔ. يوه ارتينه له بني اسرائيل په بند د دوئ بندی وه ورته ئې ووې اې د جالوت ګروهه کهٔ غواړئ چې له دې محنته خلاص شئ دا تابوت و بني اسرائيل ته ورکړئ. بله ورځ جماعت د کافرانو په شا د غوايهٔ بار کړ او ګاؤ ئې له خپله حده بيرون کړ او پريښښهٔ. هرګاه چې اراده د پروردګار په دا وه چې طالوت په بادشاهی مکرم او محترم کا فرښتو ته امر وشهٔ چې غوځکے و مصر ته روان تابوت و طالوت ته ورسوئ په وحت د مهتر اشموئيل [۲۴] او د طالوت د دعا تابوت ئې و کور ته وروړ (۱) علي الصباح مهتراشموئيل اکابر او اعاظم د بني اسرائيل جمع کړهٔ او تابوت ئې ورته ښکارهٔ کړهٔ. دوئ په صدق او يقين او تمام اعتقاد سجده د شکر په ځاے راوړه او په حضور ئې د مهتر اشموئيل طالوت په خطاب د ملکي او بادشاهي موسوم کړ. او دولس نقيبان يعني سرداران چې له اولاد د مهتر يعقوبؑ وو په خدمت او ملازمت ئې د طالوت کمر د خدمت مستحکم کړ. او په قوم د بني اسرائيل جمعيت او رفاهيت تمام او کمال پيدا شهٔ. او استقلال او استعداد د ملک طالوت تمام وشهٔ او لاس ئې د ظلم د ظالمانو له مظلومانو کوتاه کړ هرګاه چې څو کال په دا طريق تير شول. حق تعاليٰ وحي په مهتر اشموئيل نازله کړه (۲) چې ملک طالوت ته ووايه چې په اتفاق د بني اسرائيل متوجه په جنګ د جالوت شي. مهتر اشموئيل ملک

طالوت له وحي آګاه او واقف کړ او په دا باب ئې جدوجهد په تقدیم ورساوهٔ. او په بلاب ئې د سلطنت او نګاه داشت د بني اسرائیل د خاطره نیک نصیحت او وعظ سودمند وفرمایهٔ ملک طالوت سرداران د بني اسرائیل جمع کړهٔ. موافق د وحي الٰهي او مطابق د امر د مهتر اشموئیل ئې اعلام او آګاهي ورته وکړه او په جنګ ئې د جالوت تحریص او ترغیب ورته وفرمایهٔ. بني اسرائیل په تقدیم د دې امر ډیره سعي وکړه او ساز او اسباب ئې تیار کړ او په بنهٔ ساعت ئې په جانب د جالوت کوچ وفرمایهٔ. او ملک طالوت له اویا زرو سورو سره چې واړه جنګیان او کارګزار وو له بنهره د ایلیا (۳) ووت هرګاه چې ملک طالوت و ملک ته د جالوت راغے حکم ئې وکړ چې هر ځاے چې د کافرانو کنیسې او عبادت خانې شته واړه دې وراني او خرابې کا. او د جالوت اتهٔ لکه سوارهٔ وو. (۴) یوولس ورځې ئې جنګ یو د بله وکړ یوه شپه ئې ملک طالوت ته خواب راستوهٔ چې تر کومه به جنګ کوؤ او خلق به په قتل رسوو باندې دي چې صبا د وخته و جنګ ته راوځه یو د بله به جنګ وکړو کهٔ ما مړ کړے ملک او ولایت دې تا دې ما. او کهٔ تا مړ کړم دې ما ملک او ولایت دې تا. او کهٔ خود نهٔ توانیږے هر څوک چې بهتر او بهادر ګڼے و مقابلې ته ئې دې ما راوباسه. ملک طالوت دا حقیقت و مهتر اشموئیل ته په عرض ورساوهٔ. مهتر اشموئیل په دا باب کښې عاجز شوے وهٔ. وحي شرف د نزول وفرمایهٔ او وې فرمائیل چې ایشا (۵) یو مرد دے له بني اسرائیل چې دولس فرزندان لري بیا په هغو کښې چې تر نورو کشر دے او داؤد نومي. (۶) قاتل د جالوت هغه دے خپل زوم ئې کړه او له خپله او له خپله سلطنته نصیب او حصه ورکړه. (۷) مهتر اشموئیل له دي زیري خوشحال شهٔ. ایشا ئې په قوم کښې د بني اسرائیل ولټوهٔ. بیا ئې موند. ایشا له دولسو فرزندانو سره حاضر شهٔ. [۲۵] مهتر اشموئیل وفرمائیل اے ایشا له فرزندانو دې تا داؤد کوم یو دے؟ چې قتل د جالوت الله تعالي په لاس د دهٔ مقرر کړے دے. مهتر اشموئیل لاس د داؤد ونیوهٔ په زوم والي ئې آګاه (۱) او په قسمت ئې د ملک واقف کړ ایشا او داؤد دواړه په خوف او په رجا و خپل کور ته ولاړل. هرګاه چې خپل ځاے ته لاړل خوشحال شول چې فرمائش به د مهتر اشموئیل مطابق او موافق له وحي وي. او په هغه شپه ئې له غیب اواز واوریدهٔ چې اے داؤد په کاڼي د مچنوغي به جالوت په قتل ورسوے. دا دي درې کاڼي واخله او وې ساته. داؤد هغه کاڼي واخستل او وې ساتل او همت ئې په قتل د جالوت وګمارهٔ. بله ورځ ئې وسله واخسته او خول (۲) ئې په سر کړ او په سپین هاتي سور شهٔ (۳) و جنګ ته راغے ملک طالوت داؤد ته هم رنګارنګ اسباب او ساز ورکړو. و جنګ ته ئې وریوست. داؤد نوم د پروردګار یاد کړ او په مچوغنه ئې وویشت. کاڼے ئې په وچولي سر شهٔ. بیا ئې په دویم کاڼي

ویشت دا کانړے ئې په ژامنو برابر شهٔ. په درې واړو کانو ئې وویشت.(۴) جالوت له هاتي سره مړ شهٔ او خپل ځان ئې ملائکو ته د دوزخ وسپارهٔ. پس له هغه ملک طالوت و خپل سپاه ته حکم وکړ په یوهٔ ځل ئې په لښکر د جالوت ګډ کړهٔ او کافران فاجران ئې په تیغ بیدریغ مړهٔ کړهٔ. او ډیر ئې په بند بندي کړهٔ. او هومره نقد او جنس او مال او مواشي په لاس د اسلام ورغلل چې له ګفتاره او له تکراره بیرون دي. او ملک طالوت داؤد هم هغه زمان په تخت د جالوت کښیناوهٔ. په فتح او فیروزی خپل ځاے ته روان شول. او تمام ملک د جالوت په تصرف د اسلام راغے او ملک طالوت خپله لُور په موجب د حق تعالي د امر په فرموده د شموئیل په نکاح داؤدً ته ورکړه. او شریک ئې په خپل سلطنت کړ او خپل کار مدار او حل او عقد د ملک ئې و. دهٔ ته تفویض او تسلیم کړ او حکومت او ایالت ئې د جالوت داؤدً ته وسپارهٔ. مهتر داؤدً ښه طریقه او پاکیزه روش او داد او عدل تر هسې حده وراندې کړ چې تمام بني اسرائیل د دهٔ ثناخوان او شکر ګویان شول او ډیرو خلقو دهٔ وته رجوع راوړه. دا جمعیت او انبوهے د طالوت ناپسنده به شوے(۵) وې غوښتل چې داؤدً مړ کا او سلطنت تنها بې شرکته د غیر په ځان مسلم کا. ملک طالوت فرصت غوښت چې څهٔ رنګ به خپله مدعا حاصله کا. یو مرد ذوالعین نومیدهٔ مقرب د ملک طالوت وهٔ په حسد ئې د ملک طالوت داؤدً آګاه کړ(۶) له استماع د دې واقعې متعجب او په اصل د حقیقت واقف شهٔ. له ملازمت نه ئې د ملک طالوت اجتناب وکړ یوه ورځ ملک طالوت و کور ته د داؤدً ورغے او له خپلې عاجزې نه ئې پرسش وکړ چې خوابګاه د داؤد کوم دے؟ چې په شپه هلته څملي. هغه ځاے ئې ملاحظه کړ نورو جارووت. هرګاه چې داؤدً و کور ته راغے خپلې ارتینې له ورتلو د ملک طالوت او له تحقیق ئې د خوابګاه [۲۶] آګاه کړ داؤدً په ځاے د خوب مشک ډک په اربو کښیښ او د پاسه ئې څادر پرې وغوړاوهٔ چې ملک طالوت ووائي چې داؤد اودهٔ دے او داؤدً خود په یوهٔ څنګ مخفي شهٔ. هرګاه چې نیمه شپه تیره شوه. ملک طالوت و خوابګاه ته داؤدً راغے هرګاه چې توره ئې مشک ته واچوله اوبهٔ له مشکه جاري شوے وپوهیدهٔ چې داؤدً له معاملې خبردار شوے دے او دے به هم په عداوت کوشش وکا. یو شپه داؤدً کور ته د ملک طالوت ورغے وې لید چې دے په خوب دے. څلور غشې ئې له خپله ترکښه وکښل او په څلور واړه کونجونو ئې د هغه کور چې د دهٔ پکښې خوابګاه وهٔ لک کړهٔ. او تُوره او کمند او خنجر ئې د ملک طالوت واخستل او خپل کور ته راغے هرګاه چې علي الصباح صورت د واقعې ملک طالوت دا رنګ ولید په پاسبانانو او حاجبانو ئې اعتراض وکړ دوه سوه تنه ئې په قتل ورسول. او تاکید تام ئې په حق د هوښیاری او بیداری وکړ بله

شپه داؤدٌ بیا و کور ته د ملک طالوت راغے حق تعالي هسې رنگ په خوب په پاسبانانو او
څوکیدارانو وګمارهٔ چې اصلاً او مطلقاً نهٔ توانیدل چې بیدار شوے وے. هر ګاه چې په ورهٔ د
کور ورغے ملک طالوت ئې توره وکنبلي په څنګ ینبے ولید. داؤدٌ هغه توره واخسته او
خپله توره ئې برابر د دهٔ په مخ کینبوه او رقعه ئې وکښه او په بالین ئې د ملک طالوت کینبو
او له هغهٔ خایه روان شهٔ. صورت حال ئې دا رنګ ولید او رقعه ئې واخسته وې ئې لوست
کبنلي ئې وو چې اے طالوته له حاضره ناظره خدایه ویریږه او په ناحق خون دې ما لاس م
آلوده کوه. او کهٔ ما غوبنتے تهٔ به مې په قتل رسولے وے. اما حقوق سابقه چې له تا دې ما پ
وقوع راغلي دي منظور مي کړهٔ. (۱) له دیو ناپسندو افعالو توبه کړه. ملک طالوت پس ل
اطلاع او له وقوف د دې رقعې د مضمون به غضب زیاتي تر شهٔ چې په هره وجه چې وې داؤ
په قتل رسولے بویه. او په قتل په کشتن دلیر او دلاور شهٔ. او په دغه وخت مهتر اشمونیل پ
جوار د کردګار متصل او پیوست شهٔ. او طالوت لاس د تعدي په بني اسرائیل دراز کړ
هسې حده چې په لږ جرم چې به له یوهٔ په ظهور راغے تمامه قبیله به ئې د هغهٔ شخص په ید
بندي کړه. څو چې مخصوصان د ملک طالوت له دهٔ جدا او رعایا او اهل حرفه ؤ جلاوطن
اختیار کړه. او په اطراف په جوانب لاړل چې په لږ مدت ئې دیرش زره کسه له بني اسرائیل
په قتل ورسول. او همیشه طریقه د قتل او غصب د مال او د متاع عادت د دهٔ شهٔ. او داؤدٌ ه
له صحبت د دهٔ پرهیز وکړ او ګوبنه ئې ونیوه او حق تعالي صورت او سیرت د دهٔ تغیر ا
تبدیل کړهٔ. او خلقو به ورته ظالم او خونخوار وئیل. یوه ورځ طالوت و بنکار ته تلے وهٔ یو
ارتینه ئې په ژړا په واویلا په یوهٔ قبر ناسته ولیده. هغه ارتینې ته نزدې ورغے او سبب ئې د ژړ
ترې وپوبنتلو. ورته ئې ووې چې څبنتن دې ما وهٔ. [۲۷] او هره ورځ به و صحرا ته د بنکا
دپاره تهٔ او بنکار به ئې راوړ چې خپل اوقات ئې په هغې غوبنې تر سره رسول اوس په انوا
عذاب او عقوبت هغه مرد ګرفتار او مبتلا دے او هره شپه دې په خوب کبنې په تمام عذا
وینم. له ګرفتاری د عذابه به مې ترې سوال وکړ راته ئې ووې دا واړه عذابول سبب د نیولو
ښناورانو دي. هر ګاه چې ازار او عذاب مې د دهٔ ډیر ولید له خوبه بیداره شوم. په دا بنو
کبنې یوه ارتینه مستجاب الدعوات وه. ورغلم او په ډیره زاری مې په باب د څبنتن
مخلصی دعا وغوبنته چې وي ګوندې له عذابه نجات بیامومي. هغې صالحې ډیر مدت په ح
د دهٔ دعا برپا کړه امیدواره یم چې دعا ئې مستجابه شي او له عذابه خلاصي او نجا
ورارزاني شي. اوس په قبر د دهٔ راغلے یم او حقیقت د دعا د هغې زاهدې وایم او ژاړم. هر ګ
چې وخت د انابت او د توبې د بازګشتی د ملک طالوت راغلے وهٔ خبره ئې د هغې عورتینې

پېزړۀ خاپے کړه او لـه دې خوب د غفلت بيدار شۀ او صورت او سيرت ئې په هيئت اصلي راغلـل او آه سـرد ئـې لـه زړۀ وکيښ او له واقعې د عادت قديم متنبه او آگاه شۀ او له خانه ئې ووت هـرگـاه چې دا مـرد پـه حلال ښکار معذب او معذوب شۀ حال به دې ما تر کومه ورسي چې سـل زره خوانان مې په ناحق وژلي دي. لاس ئې په لمن د هغې ارتينې ښخ کړ چې ما هم و هـغې صالحې ارتينې ته ورولـه چې هسې امر چې سبب د نجات او د خلاصي وي هغه معصومه دلالـت وکـا. هغه ارتينه وپوهيده چې دا ملک طالوت دے لهقهره او له ظلمه ئې ويريده. ورۀ تـښې د هغې زاهدې ورروست او خود وروړاندې شوه اعلام ئې وکړ چې ملک طالوت دې تا پـورۀ راغلے استدعا او خواهش د ملازمت لري. هغې زاهدې طالوت طلب کړ پس له سلامه طـلـوت لاس پـه لمن د هغې معصومې ښخ کړ او وې ويل په حق دې ما دعا وکړه او هسې لار رانه تعليم کړه چې سبب د نجات وي. هغې عفيفې ووې چې زۀ قبر د يوۀ له نبـيانو پيژنم او هر مـشکـل چې راپيښ شي په نزدې د هغۀ قبر کښينم. پس له هغۀ هر چې بر آمد د کار او د طلب وښ خـواب واؤرم. تـا وتـه به قبر د نبي وښيم. پس له هغې صالحه روانه شوه او ملک طالوت وپـسـې تـۀ. خـو قبـر تـه د مهتـر اشـمـونيل ورغله. ورته ئې ووې اے ملکه دا دے قبر هر چې غواړے التـمـاس ترې وکړه. چې دا مزار د اشمونيل دے. ملک طالوت له ډيره خجالته گويا اېـۀ شۀ. فرياد او زارې ئې آغاز کړه چې زۀ دا طاقت نۀ لرم چې په حضور د دې مبارک مزار دم ووهـم. هـغـې صـالـحـې فـريـاد وکړ چې اے نبي الله دا دے ملک طالوت دې تا په خدمت رغلـے دے او لـه خپله اعماله او له افعاله قبيحه ندامت لري او غواړي چې توبه وکا. په امر د حق تـعـالىٰ ژوندے شه او دۀ ته لار تعليم کړه. ناگاه قبر وچاؤد مهتر اشمونيل مخ لکه مياشت په غبـار آلـوده له خاورو راپاسيد. وې ويل مګر قيامت قائم شۀ. هغې زاهدې ورته ووې اے د خدا‌ے پيـغـمبـره مـلک طـالـوت پـس لـه ظـلـمه له فساده دې تا په خدمت راغلے دے. مهتر شمونيل ووې اے طالوته.[۲۸] پس له ما تا نه چې افعال صادر شوۀ چې زمکه او آسمان د تا له لاسـه نالان او له فرياده دې تا د ظلمه غوږونه د ملائکو کانۀ شول. ياد کړه هغه ورخ چې په طلب د گوسفندانو و کور ته دې ما راغلے او ما په باب دې تا د امارت او سرداری څو سعې او کـوشـش وکـړ چې بني اسرائيل په سلطنت مقبول او منظور کړے هغه ساعت او خپل افلاس و بې نوائي دې فراموش کړه او اوس په عباد الله لاس د تعدي او ستم دې دراز کړ دريش زره خـوانـان دې په قتل ورسول او دې تا له ظلمه فرياد او زاري په غوږو د عالم ملکوت ورسيده. و زلزله په اطباق د زمکې پريوته او په کشتن د داؤد چې دا ما دې تا او قاتل د جالوت کافر او چوڼ او برگزيده د درگاه پروردگار دے او عنقريب به په نبوت مبعوث شي سعې دې وکړه او

جـمعيت د بني اسرائيل دې تار په تار کړ اے طالوته وجاروخه په لور د پروردگار چې بې له دۀ بـل معبـود نشته او قهار او جبار دے. له خپلو قبيحو افعالو پښيمان او توبه گار شه چې حق تـعالـي قبـول کـړونے د توبې دے هرگاه چې طالوت دا خبره واؤريده آه د حسرت ئې له زړۀ وکيښې او وې ويل چې اے نبي الله هسې عمل چې موجب دې ما د نجات وي راته نمايان کړه. مهتـر اشـمـوئيـل ووې اے طـالـوته کبيره گناهونه له تا حادث او صادر دي. توبه به دې تا هغه زمـان قبـول شي او په محل به د نجات ورسے چې امور د سلطنت و داؤدٌ وته تفويض او تسليم لـه خپـلـو لـسـو فـرزنـدانو سـره له جماعه د کافرانو مقاتله برپا کړے چې په شرف د شـهادت ورسے او بې له شهادته هسې سبب چې دې تا نجات وشي، نشته. مهتر اشموئيل دا ووې نور پـه قبـر ننوت طالوت و خپل منزل ته راغے او واړه بني اسرائيل ئې طلب کړۀ او ورته ئې ووې چې مهتـر اشـمـوئيـل پيغمبر د خدائے ماته دا رنگ وصيت وکړ چې بې له سعادت د شـهادت نـجـات دې تا ممکن نۀ دے هر چرته چې داؤد شته طلب ئې کړئ چې واړه مراتب د سـلطنت و دۀ تـه تسـليـم او خـود په نيت د شهادت له کافرانو مقاتله او مجادله وکړم. پس له هغې بني اسرائيل د مهتر داؤدٌ تفحص وکړ او په خدمت ئې د ملک طالوت حاضر کړ ملک طالوت تـولـه لـوازمه د سلطنت و مهتر داؤدٌ ته تفويض او سپرد کړه. او خود په ادا د حق د مظلومانو چې پـه غـصـب او پـه تعدي ئې پخپل گردن بار کړے وۀ مشغول شۀ. او څو توانيدۀ حق ئې د خـلـقـو لـه بيـمه د خالقه له خپل گردنه ساقط کړ تر هسې حده چې هيڅ يوۀ احد من الـناس له مدعيانو او دامنگيرانو په هغه وخت لاس په لمن د دۀ ښخ نۀ کړ پس له هغۀ ئې مهتر داؤدٌ وته وصيـت وکړ چې دوه ارتينې له نسله د لاوي بن مهتر يعقوب عليه السلام دې ما په حرم کـښې بـار پـه نـس لـري. او مـا له مهتر اشمونيل اوريدلي دي چې حق تعَالي به له دوئ نه فرزند نرينه تـولـد کا. پس له ما به نتائج او فرزندان د ديو دواړو فرزندانو تر قيامته په صفحې د روزگار په عـرصـې د دوار پـاتـو شـي او صاحب ولايت او امارت او شجاعت به په وجود ترې راشي. او قبـائل [۲۹] به له دوئ له ډيره کثرته او جمعيته په جميع طوائف او اصناف د خلقو راجع وي. الـقـصـه مـلک طـالوت و ملک ته د کافرانو ورغے څلويښت شبانه روزه ئې د کافرانو سره مـحـاربـه او مقاتله وکړه. لـسو فرزندانو سره ئې شربت د شهادت وڅيښ او له عذا. ابلدي ئې نـجـات بيـامـوند او په سعادت سرمدي فائز شۀ. (۱) او مهتـر داؤدٌ پـه غمخوارگی د هغو دوؤ مستـوراتـو سـعـي جـميـلـه په تقديم ورسوله حق سبحانه تعالي هر يوې ته په يوۀ ساعت کـښې نـارينـه فرزندان کرامت او عنايت کړۀ او د يوۀ ئې برخيا او د بل ئې ارميا نوم کښيښې. هر گاه چې پـه سـن رشـد ورسيـدل معلم ئې ورته تعين کړۀ. په اخلاق صورت او معنوي ئې بهره مند

ـرهٔ. هـر گـاه چـې په عهد د بلاغت ورسيدل سپه سالاري او سر گروهي د بني اسرائيل و هر
ږهٔ تـه لـه دوئ تـفـويـض شوه ځو په عنايت د خداوند ودود او په يُمن د توجه د مهتر داؤدٌ په
ولـت عظميٰ او په رتبت کبريٰ ورسيدل. او په شجاعت او پهلواني کښې ئې ګوئے د سبقت
له ميدانه د مردانو يووړ او په هر لښکر به چې تعين او مقرر شول نسيم د فتح او فيروزی به په
ښـان د دوئ د دولـت الوتهٔ. مهتر داؤدٌ آثار د بزرګی او د دوئ د رشد مشاهده کړهٔ. زمام د
هـام د رتـق او د فتق او د قبـض او د بسـط د کـارخـانـې د سـلطنت و برخيا ته تسليم او سپه
سالاري ئـې د خپل لښکر په ارميا مقرر کړه. په يُمن د توجه د ديو دواړو ورونو رفاهيت تمام
په فـرقـه کښـې د بـنـي اسـرائيل ظاهر او مبرهن او معموري او اباداني په امصارو او په قرياتو
ښـې دوچند او مضاعف شوه. او حق تعالي هر يوهٔ ته کامل فرزند کرامت کړهٔ. برخيا د خپل
ـزند نوم آصف او ارميا افغنه (٢) کښيښې. او ډير اعلي جشنونه ئې ترتيب کړهٔ او د دوئ په
ـرورش کښې ئې ډيره سعي په تقديم راوړه. هر ګاه چې په حد د رشد او تميز ورسيدل برخيا
ـ ارميا پـه تفاوت د ځو ورځو (٣)وديعـت ئـې د حيات وسپارهٔ. مهتر داؤدٌ له رحمت د ايزد
ـتعال واصل شهٔ او مدت د ايالت د مهتر داؤدٌ سل شل کاله او ايام د سلطنت د ملک طالوت
ـروهٔ څلويښت وهٔ. (٣) او پـه طريق د اجمال احوال د سليمانٌ نظر په احتياط د سررشته د کلام
کـيښې شـهٔ. پـس لـه وفاته د مهتر داؤد عليه السلام په موجب د وحي او اتفاق د بني اسرائيل
ـهتـر سـليـمـانٌ پـه سرير د سلطنت او نبوت جلوس والا وفرمايهٔ. او خلائق ئې په داد په عدل
ـسرور کـړ او زمـام ئـې د مهمات د جز او د کل و آصف بن برخيا ته وسپارهٔ. چې په باب د
ـزارت ئـې نـظيـر او عديل نهٔ درلهٔ. او سپه سالار ئې د خپل تمام لښکر و افغنه بن ارميا چې په
ـساتل او نګهداشت د عموم خلائق د خاطر مکمل وهٔ مقرر کړ او هر ګاه چې مهتر داؤدٌ په امر
ـ بـاري تـعـالـي بنا د مسجد بيت المقدس ايښے وه. [؟٣] مهتر سليمانٌ په اتمام او په امضا د
ـسـجـد سعي وفرمائيله او په انصرام او سرانجام ئې تاکيد وفرمايهٔ. هر ګاه چې طبيعت د افغنه
ـه کـار فـرمـائيـل حـکم تمام درلهٔ مهتر سليمانٌ اتيا زره بواب او حجاب او نائبان په دهٔ حواله
کړهٔ. چې په کار فرمائيل د مسجد اقصي اهتمام په تقديم راوړي او په لږ مدت کښې ضابطه د
آصف پـه اووهٔ اقـليـمه کښې جاري او طنطنه د سياست د افغنه په جن او انس جاري او ساري
شـوه. او بـې مـصـلـحـت او مشورت ئې د دهٔ هيڅ کار په عمل نهٔ راوړ خکه جلب د اختيار د
ـهـمونو د کارونو د جهان په قبض او تصرف د دهٔ راغے او په څلويښت کاله کښې عمارت د
ـسجد اقصي په اتمام ورسيد او ديوانو کار د مسجد مذکور کاوهٔ. هر يو ګنبد سر د ارتفاق او
د بلـــدی و اســمـان تـه څکولے وهٔ. او سل اويا زره قنديلونه د سرو زرو په دغه مسجد کښې

بلیدل. او دا عمارت په سعي او په تلاش د افغنه په اتمام ورسیدهٔ او حق تعالیٰ ځلویښت فرزندان ورته کرامت کړهٔ. او اولاد د دوئ مخ په افزود په زیادي ونیوهٔ. خصوصاً فرزندان د افغنه په کثرت او جمعیت کښي په هسي مرتبه ورسیدل چي هیڅ یوه قبیله په ربع مسکون کښي په برابری او په تقابل ئي نهٔ وه. هرګاه چي ورځي د ژوندون د مهتر سلیمانؑ په انجام ورسیدلې یوه ورځ ئي پاس په منبر وعظ کاوهٔ ملک الموت حاضر شهٔ او تحیت ئي د پروردګار ورساوهٔ او وې ویل په امر د حق تعالیٰ ځان به دې تا و علیین ته ورم. وې ویل هومره فرصت راکړه چي و خپل حرم ته لاړ شم او بلقیس وداع کړم وې ویل حکم نهٔ دې. مهتر سلیمانؑ ووې هومره مهلت راکړه چي آصف او افغنه ته ملک وسپارم. عزرائیلؑ ووې د تا له ملکه د پروردګار څهٔ کار. دهٔ زده او د دهٔ کار. پس له هغهٔ ئي ووې هومره امان راکړه چي دوه رکعته مونځ وګزارم. وې ویل اې سلیمانؑ زهٔ په دا مامور نهٔ یم. نور عزرائیلؑ وروړاندې شهٔ. دوه ګوتې ئي په سترګو کیښوې او ځان ئي قبض کړ. مهتر سلیمانؑ هغه رنګ لکه په منبر ئي وعظ کاوهٔ روح ئي مقبوض شهٔ. او په زور د عصا ئي لکه تکیه کړې وه. ولاړ پاتو شهٔ او د یوهٔ کال کار د مسجد پاتو وهٔ حکمت په ولاړه کښي د دهٔ د ساه قبضول دا وهٔ چي جن او انس دې په عبادت ولاړ کښي واړه ئي مامور او محکوم د حکم وي چي مسجد په اتمام او سرانجام ورسي او افغنه په رسم قدیم په رواج د کارخاني د سپه سالاری او اهتمام د عمارت په جهد او سرګرم وهٔ. څو عمارت په اتمام او انصرام ورسید او په مدت د یوهٔ کال په موجب د آصف د تدبیر هیڅ خلل او فتور واقع نهٔ شهٔ. هرګاه چي دیوانو کرم چوب خوره یعني ګونې راوورړ عصا ته ئي د سلیمانؑ ورساوهٔ. هرګاه چي چوب خوره همسا وخوړه هغه پیغمبر په زمکه ولګید او خبر د مرګ د مهتر سلیمانؑ په عالم ښکاره او شائع شهٔ. (۱) او مدت د سلطنت د مهتر سلیمانؑ په یوهٔ قول پنځهٔ نوي او په بل روایت اتیا (۲) کاله وهٔ. او آصف او افغنه تر اخره د خپل حیات په بیت المقدس کښي صاحب مدار او صاحب رائ [۳ ا] د خپل لښکر وو او حل او عقد او قبض او بسط د بني اسرائیل په قبضه او اقتدار د دواړو ورونو وهٔ. څو دواړو ورونو ودیعت د حیات وسپارهٔ او اولاد او اسباط د دوئ په هغهٔ دیار کښي ساکن او متوطن وو لکه عنقریب به ذکر د دوئ د احوال تفصیل وار په قید د قلم او په خیر و عافیت راشي. القصه پس له هغه الله تعالیٰ و تقدس بخت نصر ته په بلاد او نواحي د شام استیلا او غلبه وړکړه او بیت المقدس ئي خراب او ویران کړ. (۱) او په بني اسرائیل غالب شهٔ او فرزندان ئي د دوئ په بندګی او اسیری ونیول او جمیع قبائل چي توریت خوان وو له وطنه ئي جلاوطن کړهٔ. او مهتر دانیال (۲) هم په دا بند کښي ګرفتار وهٔ دوئ ته ئي ووې چي پرستش او بندګي د حق

تعالیٰ او دین د خپل آبا او اجداد مۀ پریږدئ. دوئ له دینه او له ملته د موسیٰ ونۀ جاروتل. هر گاه چې بخت نصر دوئ په اسلام کښې قوي او محکم ولیدل دولس زره تنه چې په دوئ کښې عالم او اورع او پرهیزگار وو په قتل ئې ورسول. او مهتر عزیر (۳) او مهتر دانیال ئې په هغه سبب چې تعبیر ئې د دۀ د خوب له خوب سره چې له هوله ئې فراموش شوے وۀ. (۴) ووې دواړه ئې خلاص کړۀ. او باقي ئې له ولایت د شام اخراج کړۀ. او دوئ په کوهستان کښې د غور او د غزني او د کابل او د قندهار او کوه فیروزه او نواحي د دوئ چې داخل په اقلیم پنجم او ششم دي خصوصاً (۵) فرزندانو د آصف او افغان طرح د اقامت برپا کړه او ساکن شول او هورته ئې جمعیت او اولاد د دوئ مخ په زیادتي ونیوۀ. او له کثرته د قبائل له کافرانو د هغۀ اطراف او نواحي جنگونه ئې پے در پے او متواتر وکړۀ او ډیر کفار ئې مقتول کړۀ او هغه کوهستان ئې په خپل تصرف تر زماني د سلطان محمود غازي او سلطان شهاب الدین غوري کړ

باب دریم په ذکر د خالد بن ولیدؓ او بیان د اسلام او امارت او ایالت د دۀ په بصره(۶) او په حلب او په شام او عراق او عرب تر آخره د خلافت د امیر المؤمنین عمر رضي الله عنه.

هر گاه چې بخت نصر اقوام د بني اسرائیل او فرزندان د آصف او د افغان چې له کثرت جمعیت ئې په جمیع قبائل تفضیل ۷) درلۀ له ولایته ئې د شام اخراج کړۀ. بعضې له دوئ و ملک ته د عرب راغلل او له خانه ئې ووې چې هر گاه له زیارته د حق تعالي د هغه کور چې چې مهتر داؤدؑ او مهتر سلیمانؑ بنا کړے وۀ مهجور او محروم پاتُو شو دا سعادت عظمي له مونږ فوت شۀ اوس به طاعت د دې بیت الله چې مهتر ابراهیم علیه السلام ئې بنا په تقدیم راوړه او دا مکان شریف ځاے د تولد د پیغمبر آخر الزمان ﷺ دے له لاسه نۀ پریږدو په دا چې کۀ ۸) مونږ په سعادت د ملازمت د دې پیغمبر مشرف شو پس په نواحي ئې [۳۲] د مکې معظمې سکونت اختیار کړ او دوي ته اهل عرب بني اسرائیل او بني افغان وائي ځو حق سبحانه تعالیٰ پس له انقراض د زر پونصو کالونو له زماني د سلیمان علیه السلام آفتاب د جمال محمدي ﷺ طلوع کړ او عالم ظلماني ئې په نور د اسلام د هدایت منور کړ. ۱) او تمام احیا د عرب رجوع و حضرت ﷺ ته راوړ او په شرف د اسلام مشرف شول. او فرقې د اهل شقاوت بغض و عناد د وراندې کړو ۲) او ولید بن عتبه بن عکرمه ۳) چې له قبائله د بني افغان وۀ ۴) په زمانه د ابتداء د نبوت د سرور کائنات ﷺ ودیعت د حیات ئې وسپارۀ او مصنف د مجمع الانساب دا رنگ کښې او اکثر ارباب سیر هم په دا قول دي چې ولید له جمله اهل قریشو شماري. او دۀ ته له جمله اهل قریشو په دا وائي چې عبدالشمس نیکۀ د ولید د مور وۀ او حشمت او شوکت ئې ډیر درلۀ. په دا سبب ئې په قریشو کښې شهرت

بیاموند او في الحقیقت بني اسرائیل وهٔ. (۵) القصه پس له وفاته د ولید دوه فرزندان صاحب استحقاق د میراث پاتو شول د یوهٔ نوم خالد وهٔ د بل نوم ولید ابن ولید وهٔ چې درست په رنگ د خپل پلار وهٔ. نوم د پلار په دهٔ ثابت او مسلم پاتو شهٔ. او په شجاعت او سخاوت کښې له خپلو هم چشمو او له اهل عربو غالب او فائق وهٔ. او له لویو عربو نې طریقه د اخلاص او دوستی درلـه. هر گاه چې سردار د پیغمبرانو ﷺ په خلقو باندې ځرگند او مبعوث شهٔ اکابرو او نویو عربو حسد او کینه د وراندې کړه لکه په روضة الاحباب کښې په قید د قلم راغلي دي او حضرت رسول الله ﷺ په واسطه د امر له مکې نه نې هجرت او سفر او تشریف شریف نې مدینې ته وفرمایهٔ. ابوسفیان لښکر له قبیلو د عربو ټول کړ او په احد حاضر شهٔ. او له پیغمبر خداﷺ سره نې جنگ و جدل وکړ او خالدؓ بن ولید په هغه لښکر کښې د کافرانو سپه سالار وهٔ. حق سبحانه تعالي ماتې او شکست په لښکر د اسلام گډ (۸) کړ چې بې حکمي او نافرماني نې د حضرت رسول الله ﷺ کړې وه. او په دا جنگ کښې امیر حمزهٔؓ او مبارک غاښ د رسول الله ﷺ شهید شهٔ. او سبب د دې ازار د مسلمانانو واړه خالدؓ وهٔ چې دهٔ له طرفه د کافرانو جنگ کاوهٔ. او په اتم کال له هجرته له دریو زرو ځوانانو له سردارانو د عربو و مدینې ته راغلې او اسلام نې راوړ. (۹) او آخر د دې واقعې په طریقه د کوتاهي او د اجمال دا رنگ وهٔ (۱۰) چې یوه ورځ په زړهٔ کښې د خالدؓ دوستي او رغبت د اسلام بنکاره شهٔ. خصوصاً هغه ورځ چې پیغمبر ﷺپه سفر د مدینې په موضع او په مکان کښې د عسفان (۱۱) مونځ د خوف او د ترس گزارهٔ. خالدؓ وائي کهٔ هر څو مې سعي وکړه چې لاس د غلبې په رسول الله ﷺ بیامومم. نهٔ توانیدم وپوهیدم چې حق تعالي د دهٔ حافظ او نگهبان دے او زړ دے چې په مونږ غالب شي او د قریشو هیڅ قوت او شوکت پاتو نهٔ شي. هر گاه چې په میان د قریشو او د پیغمبر ﷺ صلح واقعه شوه. [۳۳] ما له خانه ووې چې و نجاشي ته چې بادشاه د حبشیانو دے نهٔ توانیږم چې لاړ شم په دا چې دے تابع شوے د محمد ﷺ د دین دے. او کهٔ هرقل ته چې بادشاه د شام دے لاړ شم دے دین د یهودیو او د نصرانیو لري. او ماته یو دین بانده دے او له دیو دواړو دینونو ویزار یم. په دا کښې متردد او متفکر وم(۱) رسول الله ﷺ په ادا کول د عمرة القضا راغے او زهٔ له مکې معظمې ووتم. هرگاه چې حضرت ﷺ عمره ادا کـړه دې ما د ولیده وروره نې پوښتنه وکړه (او ولید پخوا تر دا په شرف د اسلام مشرف شوے وهٔ) چې خالدؓ چرته دے؟ وررور ولید و ماته خط وکیښ چې اے وروره ماته تعجب راځي چې تهٔ نهٔ مسلمانیږے. آگاه شه چې رسول الله ﷺ له ما پوښتنه وکړه چې خالدؓ چرته دے. ما ووې یا رسول الله ﷺ خدائے دے راوله پیغمبر ﷺ وفرمائیل.

چې اے ولیده خالدؓ له هغې قبیلې نهٔ دے چې حقیقت به د اسلام له دهٔ پټ او مخفي پاتو شوے وي. کهٔ مسلمان شي او خپل شجاعت او بهادري په اتفاق د مسلمانانو په کافرانو او مشرکانو ظاهره او ښکاره کا البته به دے بهتر شي او زهٔ به دهٔ ته بغیر تردهٔ (۲) تقدیم او وړاندې والے ورکړم. اے وروه زر کړه او دا دولت او سعادت وغواړه چې ډیر خیر او اسلام له تا فوت شهٔ. هرګاه چې خط کتابت د ولید و ما ته ورسیدهٔ او له مضمونه ئې واقف شوم له خپله تیره عمره مې ندامت وکړ او رغبت او مینه مې په اسلام زیاتې شوه او هغې خبرې د رسول الله ﷺ ډیر خوشحال او ښادمان کړم پس له هغې و مکې ته راغلم او تیاري مې د سفر وکړه. رهروے او متوجه د مدینې شوم او دوه شپې عبدالسلام عبدري له ما سره ملګري او مولفقت وکړ هرګاه چې په موضع د هده ورغلم عمرو عاص له ما سره مل شهٔ او دے هم په خوهش د اسلام و مدینې ته تهٔ. په اتفاق د دهٔ و مدینې ته ورغلم او حضرت مې له راتلو خبردار شهٔ. او خپلو اصحابوؓ ته ئې ووې چې په تحقیق مکې خپل فرزندان او جګر ګوشه په لورد مونږ راوغورځول. خالد وائي چې نمري مې د سفر له تنه وکښل او پاکیزه جامې مې واغوستے او په نیت د ملازمت د رسول الله ﷺ متوجه شوم. په مخه مې ولید ورور راغے او راتهٔ ئې ووې زر کړه خبر دې تا د راتلو و رسول الله ﷺ ته رسیدلے دے او حضرت دې تا له راتـو خوشحاله دے پس تلوار مې وکړه او په اسلام او ملازمت د رسول الله ﷺ مشرف شوم. هرګاه چې په ما ئې نظر برابر شهٔ تبسم ئې وکړ پس له هغه ما ووې السلام علیکم یا رسول الله ﷺ خواب د سلام ئې راکړ پس ما ووې "اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمد رسول الله" حضرت وفرمائیل "الحمد لله الذی هداك الى الاسلام" (۳) خالده ما وې چې تاته بهر واړو پخوا ارشاد او هدایت د اسلام وکړم. ما وې یا رسول الله ﷺ ګوره چې په باب د کفر مې خومره غلیمي او دښمني په حق د خدائے تعالي وکړه دعا د خیر په باب دې ما وکړه.[۳۴] چې حق تعالي په ما کرم او بخشش وکا. پیغمبرﷺ وفرمائیل چې اے خالده ګناه دې په کمال دے (۱) ما عرض کړهٔ چې له دې سره هم دعا وفرمایه. پیغمبر ﷺ د خدائے وفرمائیل حق دې تیر ګناهونه د خالدؓ عفو او درګزر کا. خالدؓ وائي چې قسم مې د پروردګار دے چې له هغه ورځې چې مخ ما دې اسلام ته متوجه کړ هر یو مهم چې حضرت ﷺ ته مخ ښکاره کړ هیڅ یو کس ئې له خپلو یارانو له ما سره برابر نکړ او ماته ئې په ډیرو اصحابوؓ وړاندې والے او ترجیح راکړ. (۲) پس خالدؓ ملازمت د رسول الله ﷺ اختیار کړ او هم په هغه کال ئې له جعفر بن ابي طالب سره همراه او په مهم ئې روان کړ (۳) او جعفرؓ په وومړی ورځې شربت د شهادت وڅیښ او بله ورځ خالدؓ سبا له وخته په ښنان د اسلام لاړ او

صفونه ئې د لښکر ادل بدل متغیر کړهٔ. صف میمنه ئې مقدم او ساقه ئې په کین لور کړ یعنې
ښي لور صف ئې وړاندې او وروستے ئې په کین طرف کړ او په مشرکانو (۳) ئې تاخت وکړ
او دوي له دې کاره هومره غلط شول چې سکه مسلمانانو ته نور مدد او کومک راغے وېر
او ترس ئې په زړهٔ کښې شهٔ. په یوهٔ ځل واړو شا ورته کړه. او مخ ئې په تیښته ونیو خال
ورپسې روان شهٔ ډیر کافران ئې وابنهٔ د خپل تیغ کړهٔ او باقي ئې په قید او ځنو اسلام قبول
کړ خالدؓ وائي هغه ورځ توره دې ما ماته او ټښ موټے مې په لاس پاتو شهٔ. او له هغه ځای
سالم او غانم یعنې سلامت او ډیر لوټ کړے و مدینې ته راغلو حضرت رسول الله ﷺ
وفرمائیل چې خالدؓ توره له تورو د خداے دے. اے پروردګاره دهٔ ته فتح او نصرت وبخښه.
هغې ورځې دې ما لقب سیف الله (۵) شهٔ. او د حضرت ﷺ تر وفاته (۶) پورې خالدؓ مکرم ا
معزز وهٔ. او د امیر المؤمنین ابوبکر صدیقؓ په اول کال د خلافت خالدؓ له ښکره د بنو
اسرائیل په سر د طلیحه (۷) چې دعوئ د نبوت ئې برپا کړې وه تعین او مقرر شهٔ او خالدؓ پس
له ډیرو جنګونو فتح او ظفر بیاموند او طلیحه په قتل ورسید. (۸) خالدؓ خمس د غنائم یعنې
پنځک د اولجې له حقیقته د فتح په درګاه د خلافت پناه صدیق اکبرؓ ته راستوهٔ. او امی
المؤمنینؓ خالدؓ ته وکښل چې هم له دغه ځایه دې په جنګ د مالک بن نویره (۹) متوجه شې
خالدؓ په حکم د صدیقؓ په طرف د بطاح(۱۰) چې ملک او ممالک د مالک بن نویره وهٔ قص
وکړ او دے مالک بن نویره ته پیغمبر ﷺ منصب د سرداری او امارت د هغه طرف ا
اخستل د صدقات د یربوع د قوم و دهٔ ورکړې وو او مالک بن نویره پس له وفاته
پیغمبر ﷺ له هغو عربو سره چې مرتد شوي وو مل شهٔ او بنیوه ئې د ګمراهئ د وړاند
کړه. حکم د صدیق اکبرؓ دا رنګ وشهٔ چې خالدؓ دې لاړ شي او دهٔ ته دې پند او دعوت
اسلام وکا. چې خالدؓ نزدې د بطاخ ورسید خپل لښکر ئې تار په تار تفرقه کړ چې حقیقه
معلوم کا چې طریقه او شعار د اسلام په هغه قوم کښې شته یا نه؟ لښکر دوه فرقې شهٔ او دواړ
برعکس ګواهي ځنو په کفر او ځنو په اسلام وله. او مالک بن نویره په سبب د سهوه ا
اختلاف په دا میان کښې مړ شهٔ. (۱۱) او ابو قتادهٔ انصاري چې یو له اصحابو د پیغمبر ﷺ
وهٔ سوګند یاد کړ چې پس له دا به د خالدؓ تر ښان لاندې [۳۵] ونهٔ دري او له مخه د شدت ا
د غضب پاځیدهٔ او مدینې ته روان شهٔ او له خالدؓ نه ئې شکایت و خلیفه ته وکړ چې خالدؓ خبر
دې ما وا نهٔ وریده. امیر المؤمنین حضرت عمرؓ په هغه مجلس کښې حاضر وهٔ وې فرمائیل
چې خالدؓ توره په اهل اسلام وکښه کهٔ دا خبره په رښتیا ده خالدؓ په قصاص بائده دي چې
ورسي. امیر المؤمنین ابوبکرؓ وفرمائیل چې شاید چې خالدؓ ته په دا قضیه کښې تاویل م

بنکاره کړے وي. اے عمرهٔ خپله ژبه په حق د دهٔ وساته چې رسول الله ﷺ دهٔ ته سيف الله وئيلي دي او هغه تيغ چې حق تعالیٰ په کافرانو وکښلے دے زهٔ به ئې په تيکي کښې نهٔ باسم او خيفه و خالدؓ ته کتابت وکيښ چې لښکر هم دورته پرېږده او خود مديني ته راځه. هر گاه چې فرمان د خليفه و خالدؓ ته ورسيدهٔ جريده ئې خپل ځان و مديني ته ورساوهٔ او هم هغه رنګ لهلارې و مسجد ته د پيغمبر ﷺ ورغے. بيا له هغه و مجلس ته د صديقؓ راغے او خپل عذر او سورت د واقعې ئې و خليفه ته عرض کړ حضرت ابوبکرؓ دے معذور وشمارهٔ.(۱) هم هغه سعت ئې بيا په هغه خدمت چې ورته سپارلے وهٔ رخصت کړ او حکم ئې ورته وفرمايهٔ چې هرته ورشے استعداد او تيارے د لښکر وکړه. او متوجه و يمامه (۲) ته شه او عکرمهٔ بن ابوجهل سره چې سردار د اسلام د سپاه دے يو ځاے او متفق شه. او په جنګ د مسيلمة الکذاب چې دعوې د نبوت کا وروړالدې شه او دفع ئې کړه. پس له هغه خالدؓ خپل ځان و لښکر نه د عکرمهٔ ورساوهٔ او هورته له عکرمهٔ سره يو ځاے شهٔ. او په اتفاق د عکرمهٔ و يمامه ته ې قصد او عزيمت وفرمايهٔ. پس له جنګه مسيلمة الکذاب له لاسه د وحشي نام چې غلام د ابوسفيان او قاتل د امير حمزهٔ وهٔ مړ شهٔ او وحشي ووئيل چې ما په وخت د کفر بهترين د عهو يعني امير حمزهٔ په شهادت ورساوهٔ او په زمان د اسلام مې بدترين د خلائق يعني مسيلمة الکذاب مړ کړ القصه عکرمهٔ او خالدؓ مراجعت او جاروتل وفرمائيل او خپل لښکر ته رالل. او له هغه ځايه عکرمهٔ و مديني ته لاړ او خالدؓ بيا په امر د خليفه په سرداری او امارت د معال مرجوعه متوجه شهٔ.(۳) او اکثر ملکونه دهٔ په تصرف د اسلام راوړهٔ. هر گاه چې دا خبره و بادشاهانو ته د عجم ورسيده هرمز نوميدهٔ سردار وهٔ له ډيرشو زرو سورو او له سل هاتيانو سره ئې په خالدؓ بانديې راروان کړ او خالدؓ هم له اوريدهٔ د دې واقعې له سپاه د اسلام په جنګ او په جدل د هرمز مستعد او متوجه شهٔ. هر گاه د طرفين قراول (۴) بنکاره شول مردانه انانو له دواړه لوريه مخ په جنګ او په جدل ونيوهٔ. خالدؓ لکه قهرولے مزرے او مست اژدها په خپل نفس نفيس و ميدان ته راغے او پهلوان ئې و جنګ ته وغوښت. يو له پهلوانانو د کافرانو اس وتونبهٔ او ميدان ته په مقابله د خالدؓ راغے په يوهٔ ګزار ئې کافر په دوزخ داخل کړ اوپه دغه ورځ ډيرش کافران واړه جنګيالي او بهادران له تيغه د خالدؓ لرګي د دوزخ شول. هر گاه چې شپه شوه دواړه طرفه لښکر وجاروت او خپل ځاے ته راغلل بله ورځ دواړه لوريه دباره د جنګ و ميدان ته بيا راغلل او خالدؓ بيا ميدان ته ورووت او پهلوان ئې طلب کړو د هيچا دا طاقت نهٔ وهٔ چې په جنګ د خالدؓ و ميدان ته ور وځي لاچار خالدؓ امر وفرمايهٔ سپاه د اسلام په يوهٔ ځل په کافرانو حمله [۳۶] وکړه. او په دواړه لوريه اور د جنګ تازه شهٔ او ځو

گزاره پے در پے او متواتر رد و بدل ئې یو تر بله وکړ اخر الامر په عنایت د پروردګار خالدؓ پ
هرمز غالب شهٔ او په قتل ئې ورساوهٔ (۱) او ساز او وسله ئې واخسته. په دا کېنې تاج د هرمز
قیمت د سلو زرو سرو درهمو درلهٔ. هرګاه چې هرمز مړ شهٔ او ماتې په لښکر د کافرانو ګډه
شوه او ډیر لوټ په لاس د اسلام د لښکر کښېوت. خالدؓ واړه اولجه یو ځاے کړه او پنځک
ئې تري جدا کړو خبر ئې د هرمز د قتل و مدینې ته واستوهٔ او باقي مال د اولجې ئې برابر په
خپل سپاه قسمت کړ هرګاه چې خبر د هرمز د قتل و بادشاه ته د عجم ورسید قارن نومیدهٔ
سپه سالار ئې له سردارانو د عجم له ډیره سپاه په کینه وکښل د هرمز په سر د خالدؓ روان کړ
هرګاه چې خالدؓ راتلل د قارن واوریدل له حقیقت ئې په خدمت د خلیفهؓ التماس کړ او پ
نواحي د مذار (۲) دواړه لوریه برابر شول او جنګ ئې اغاز کړ پس له ډیره جنګه قارن پ
زندی د خالدؓ کښېوت او له اس پرتاؤ شهٔ او په زمکه ولګیدهٔ او په لاس د لښکر د اسلام
ګرفتار شهٔ. (۳) خالدؓ پس له فتح پنځک او خبر د فتح و مدینې ته واستوهٔ. هرګاه چې پ
دیرلسم کال له هجرت د رسول الله ﷺ امیر المؤمنین ابوبکر صدیقؓ لښکر د اسلام په
تسخیرولو او نیوو د روم او د هغه ولایت واستوهٔ څلور امیران ئې سرداران د لښکر کړهٔ او هر
یو ئې په اطراف د هغه ولایت په سرداری او حکومت مقرر او نامزد کړ یعنې عمرو عاصؓ (۴)
په فلسطین او ابوعبیدهؓ (۵) ئې په حمص (۶) او یزیدؓ (۷) بن ابي سفیانؓ ئې په دمشق او شرحبیل
(۸) بن حسنه ئې په اردن تعین کړ او وې فرمائیل هرګاه چې لښکر یو ځاے شي سردار د دې
تمام سپاه دې ابوعبیدهؓ وي او هرګاه چې تار په تار او تفرقه شي هر یو دې د خپل لښکر امیر
وي. هرګاه چې عمرو بن عاصؓ و فلسطین ته ورسید بادشاه د روم چې هرقل (۹) وهٔ له ورتلو د
لښکر د اسلام خبر شهٔ خپل ورور ئې تدارق (۱۰) نومیدهٔ له اویا زره سورو سره په دفع د مهم د
اسلام د سپاه ئې روان کړ عمرو عاصؓ حقیقت په خدمت د خلیفه وکښل او طلب ئې د
کمک او د مددګارو وکړ حضرت ابوبکرؓ فرمان و خالدؓ ته واستوهٔ چې لښکر دې په مقابله
د عجم پریږدي او خود له هغه لښکره سره چې له دهٔ سره دے په مدد دې د عمروؓ عاص روان
شي. خالدؓ په مجرد د خبر د صدیقؓ مثنیٰ ابن حارثه شیباني (۱۱) په سرداری د عراق د لښکر
پریښ او خود ئې قصد د روم وکړ (۱۲) او په لارې بعضې کوټونه او ښهرونه ئې د کافرانو
لوټ او غارت کړهٔ او مال او اسباب ئې ډیر په لاس کښېوت او له ابوعبیدهؓ سره ملحق او
شامل شهٔ. (۱۳) او اهل د بصرې (۱۴) په سبب د کثرت او د ډیر شوکت له فوځ ئې د اسلام په
ورکول د جزیه صلح وکړه. پس له هغه خالدؓ په مدد د عمرو عاصؓ روان شهٔ. هرګاه چې خبر
د پیوستون د اسلام د لښکر په غوړو د رومیانو ورسیدهٔ له موضع د جلف و اجنادین چې یو

ځاني دي په ميان د رمله او بيت جبرين(١) تـلـل اختيار[٣٧] کړل او په دغه ځاي طرفين دواړه فرقي په کمال شوکت مقابله شول. او لښکر د کافرانو نهۀ لکه شل زره سوارۀ (١) او سپه د اسلام شپږ ديرش زره وو القصه ابوعبيدهؓ ځلورو اميرانو او پينځم خالدؓ وته ووې (٢) نور سلمانانو په يو ځل حمله وکړه ناګاه په توفيق د حق تعالي باد د فتح او د نصرت په لښکر د اسلام راوالوت او ماتې په کافرانو فاجرانو ګډه شوه. او اکثر هغه مشرکان د مسلمانانو د تيغخوراک شول او درې زره غازيان له لښکره د اسلام په درجه د شهادت مشرف شول. او ډيرلوټ او ډير مال او متاع هم سوونه عراقيان په لاس د اهل اسلام راغلل. ابوعبيدهؓ او خالدؓ پسرله دفن د شهيدانو او له خصماني د جراحتيانو پنځک ئې د غنيمت جدا او باقي برابر قسست کړ او فرش د نوشيروان چې له زمرد او لعلونو او الماسونو وۀ چې ورخ د جشن به پرې کښيناستيدۀ او شراب به ئې پرې ځښل په لاس د اسلام راغلے وۀ. کۀ هر څو ئې وغوښتل چې ئې قيمت وکا ميسر نۀ شۀ. هغه ئې له پنځک د اولجې له عرضداشت د فتح په لاس د عبدالرحمٰن جمحي(٣) ئې په ملازمت ئې د امير المؤمنين ابوبکر صديقؓ واستوۀ.(٤) او خليفه له دې فتحې نهايت خوشحال او خورم شۀ. او وې فرمائيل پنځک د لوټ دې په اصحابانو د پيغمبر ﷺ او په اهل مدينه وويشۀ شي او له دې لوټه هيڅ يو اصحاب ته بيا احتيج د دنيا پاتو نۀ شۀ. القصه پس له دې فتحې خالدؓ په جانب د دمشق توجه او قصد وکړ څو دير ته ورسيدۀ چې تراوسه پورې هغۀ ته دير د خالدؓ وائي. او له هغه ځايه تر مشرقي درواې د دمشق د دريو کروهو لار ده هورته ئې نزول وفرمايۀ. ابوعبيدهؓ په دروازې د جابيه او يزيد بن ابي سفيان په بلې دروازې واړول او دمشق ئې په ميان کښې حصار کړ(٥) ميانکښې خبر ورسيدۀ چې شل زره جنګيالي ځوانان له رومه په مدد او کمک د اهل دمشق راځې او په موضع د مرج الصفر (٦) ئې ديره نيولې ده. خالدؓ ئې په مقابله متوجه شۀ. او له هغه طائفې سره ئې جنګ وکړ واړه ئې مات کړۀ او دا واقعه پخوا له وفاته د حضرت ابوبکر صديقؓ به څلور ورځې په وقوع راغلې وه. القصه خالدؓ بيا په محاصره د دمشق متوجه شۀ هرګاه چې دا خبر و هرقل ته چې عظيم د روم وۀ ورسيد. ډير لښکر ئې جمع کړ او په جنګ لې د اهل اسلام تعين کړ هرګاه چې خالدؓ له دې حقيقته آګاه شۀ و مخې ته د کافرانو د لښکر روان شۀ او په موضع د يرموک (٧) دواړه فريقه برابر شول. لښکر د روم درې لکه سورو نه زياتۀ او لښکر د اسلام څلويښت زره سوارۀ (٨) وو. هرګاه چې په دواړه طرف ئې صفونه جوړ کړۀ. چا ووې څۀ رنګ ډير دي لښکر د روم او څۀ رنګ لږ دي سپاه د اسلام. خالدؓ ووې اچې تۀ وائے دا رنګ نۀ ده بلکې په خلاف د دې دے په دا چې کثرت د لښکر په

کثـرت د خـوانانو نهٔ دے. نصرت او فتح په عنایت د پروردګار شي. پس له هغه خالدؓ ووې او
اهل د اسلام سورت د انفال ولوست او انفال یو سورت په مصحف مجید کښې دے او اواز ئې
وکـړ چې هر چا شرف د پیغمبر ﷺ د [۳۸] صحبت موندلے دے له لښکره دې جدا شي. په
فـرمو۰ه د خـالدؓ زر سوارهٔ په یوهٔ طرف ودریدل. خالدؓ په روئ د دوي له حق تعالیٰ نه استفتاح
او استـنـصـار وغـوښـت او لـه میان ئې د هغو زرو سورو سل فقیران او مهاجر او انصار چې په
شرف د شهود او حضور د هغهٔ سرور ﷺ په جنګ د بدر تر هغه وخت چې حضرت ﷺ له
قـریشـو سره جنګ کړے او فتح موندلې او اکثر نامداران د قریش مړهٔ شوي او په هغه جنګ
کښې پینځهٔ زره فرښتې نازلې شوے او له حضرت ﷺ سره تیر سو دیرلس کسه وو جدا کړهٔ
اووې ویـل چـې مـطلب دې ما له تاسو جنګ(۱) او جـدل نـه بـلکې توجه چې په درګاه د حق
تعالیٰ دعا او زاري وکړئ چې فریادرس دې مونږ شي. او مقصود د خالدؓ له دې کاره دا وهٔ چې
اعتـمـاد او تـقویت د دهٔ په مهرباني د پروردګار نه په خپل شجاعت او دلاوری او په کثرت د
سپـاه دے. پـه دا میـان کښـې قاصد له مدینې راغے او خبر ئې د وفات د امیر المؤمنین ابوبکر
صدیقؓ ورساوهٔ. خالدؓ فکر وکړ چې کهٔ دا واقعه فاش شي ماتې به په لښکر د اسلام ګډه او رنځ
بـه دې مـا ضائع شي. پس له هغه قاصد ته خالدؓ تعلیم وکړ او په حضور ئې د سپاه له بیماری د
امیـر الـمـؤمنین ابوبکر صدیقؓ وپوښتیدهٔ. وې ویل بهتر او تندرست دې او دولس زره خوانان
ئـې پـه مـدد دې تـا روان کړي دي او زر به راورسي. ﴿۲﴾ پـه وارو مـسـلـمـانانو کښـې قوت او
تـقـویت او جمعیت او مسرت پیدا شهٔ. پس له هغه خالدؓ وپوښتیدهٔ چې شرف د خلافت له چا
زیـنـت بیـامـونـد؟ او په چا قرار شهٔ. وې ویل چې په امیر المؤمنین عمر خطاب رضي الله عنه
خالدؓ ووې پس زهٔ به معزول وم. وې ویل هو. نور ئې ووې چې امارت او سرداري د دې لښکر
پـه چـا مـقرر شوې ده؟ وې ویل په ابوعبیدهؓ. خالدؓ مناجات و حضرت قاضي الحاجات ته وکړ
چـې خداونده تهٔ حاضر او ناظر ئې چې ما دا جهادونه(۳) نهٔ د خلقو دپاره او یا د طلب مال یا د
عـزت دنیـا یـا پـه رضـامـنـدی د ابوبکر صدیقؓ اختیار کړي دي بلکې خاصه مطلب مې دې
رضـامندي وه نور په میان ئې د غلیم د لښکر حمله وکړه او عمرو عاصؓ په بنې لور او یزیدؓ بن
ابـي سـفیـان ته په کین لوري د دهٔ پیش دستي وکړه او مړني خوانان طرفین په جنګ کښیوته
تـر هـسـې حده چې هغه ورځ خو خله شکست و دوارو لښکرو ته پیښ شهٔ اما بیا به په خپاے
جـنـګ قـائـم شول. اخر الامر لښکر د اسلام متفق او یکدل شهٔ او حمله ئې په صف د کافرانو
وکـړه او صف ئـې ګـډ وډ کـړ. رومیـانـو طـاقـت د استـقامت رانهٔ وړ مخ ئې په تیښته ونیو
مسلمانان په ماتې پسې روان شول. خو ورځې ئې کافران وژلل او په تحقیق ورسیدل چې په

ا جنګ د يرموک کښي يو لک شل زره کافران په قتل ورسيدل او له طرفه د اسلام زر
ځوانان‌په درجه د شهادت ورسيدل. او نقد او جنس او مال او متاع او مويشي او در او جواهر
او فرش او قماش هومره په تصرف د اسلام راغلل چې شرح او بيان ئې تر اندازې تير وه. (۴)
خالدؓ فرمائيل چې مال د لوټ او د اولجې جمع کا هر ګاه چې وخت د ويش راغې ابوعبيدهؓ
سې وبله. [۳۹] او له فوته ئې د صديق اکبرؓ او له خلافته ئې د عمر فاروقؓ او له تغيره د خان او
سه برطاليدو ئې د ده په امارت او ايالت او سرداری د ولايت چې مسخر او مفتوح وه اګاهي
و خبرور کړه. او نور لښکر ئې له ديو معنو واقف کړ او وې فرمائيل چې تاسو په اطاعت او
فرمانبرداری د ابوعبيدهؓ کښې تقصير او کوتاهي مه راوړئ او زه هم په خدمت د ده يم. تمام
سپاه وخالدؓ ته دعا د خير وکړه. په دا ميان فرمان د امير المؤمنين عمرؓ راورسيده کښلي ئې
ر چې حق تعالي ابوبکرؓ له دې جهان فاني و دار باقي ته بوتئ. او امر ئې د سرداری د
مسلمانانو و ماته تسليم او تفويض کړ او ماته هم غم د اسلام د مسلمانانو دے او خالدؓ هسې
سرد دے چې مالک بن نويره ئې مړ کړ او دروغ ئې هم ووې او سرداري د مسلمانانو د دې
رنګ کس ته سپارلي نه بويه مګر هالهٔ چې په حضور د رسول الله د يارانو په خپل دروغ وئيل
قرار او معترف شي. چې مالک بن نويره مسلمان وه ما مړ کړ که دا رنګ کار وکا په خپل
ځاے ې امير وي او که دا رنګ نه کا ما معزول کړ او ابوعبيدهؓ ئې په ځاے مقرر شه. او دے
ې حساب د بيت المال له خالدهؓ طلب کا پنځک د اولجې هر چې باقي راشي ترې دې
داخلي پس له هغه واړه مال او املاک دې دوه ځايه کا يوه حصه دې ده ته پريږدي او بله
حصه‌دې دپاره د بيت المال ضبط کا. پس له لوستو د امير المؤمنين د خط ابوعبيدهؓ مخ په
طرف دخالدؓ متوجه کړ او وې فرمائيل ته څه رنګ مصلحت وينې؟ له ديو دواړو کارونو کوم
و قبلوې؟ خالدؓ ووې ماته نن شپه مهلت راکړه ابوعبيدهؓ ووې بهتر. د خالدؓ خور وه ډيره عاقله
و فاطمه نوميده له دې سره ئې مشاورت او مصلحت وکړ. خالدؓ ته ئې ووې چې سرداري و
ابوعبيدهؓ ته وسپاره او نيمائي مال لکه چې امر د خليفه دے هم په ده حواله کړه او په بل طريق
ځښې حطر د ځان دے. پس بله ورځ خالدؓ د خپل مال حساب وکړ نيمائي مال ئې ابوعبيدهؓ ته
تسليم کړ او واړه زر درمه وو القصه و مدينې ته په ملازمت د عمر فاروقؓ راغې او امير
المؤمنين ته له راتللو د خالدؓ او له پريښولو د سرداری ډير ښه ښکاره شو چې دلالت ئې په
راستي‌او درستي وه او خالدؓ به هره ورځ په خدمت د امير المؤمنين تلل راتلل کول څو چې
نيک نهادي او نيک ذاتي د ده و فاروقؓ ته ښکاره شوه او خپل منور زړه ئې له خالدهؓ روشن
و مصفا تر کړ او انواع انواع مهرباني او لطف او احسان ئې په حق د ده مبذول او مرعي کړ

او لس زره سرهٔ دینارونه ئې دپاره د خالدؓ د خرڅ او د اخراج هر کال له بیت المال مقر
وفرمائیل. او ابوعبیدهؓ په موجب د فاروقؓ د امر په محاصره د دمشق مشغول شهٔ. (۱) او
خلیفه نه ئې استمداد او کومک وغوښت. خالدؓ ئې له دولسو زرو ځوانانو په مدد د ابوعبی
روان کړ. (۲) او یو د بله په اتفاق په محاصره د دمشق متوجه شول او شپږ میاشتې کار
محاصرې طول وځکاوهٔ. او هره ورځ به مجادلې او مقاتلې مخ ښکاره کاوهٔ. یوه شپه له ش
تکیه ئې په مدد د پروردګار وکړه او په اتفاق مړنیو د اهل اسلام پوړسنګونه کوټ ته | ۲۰
تکیه کړهٔ په څلورو واړو طرفو په قلعه راوختل او تکبیر ئې په غوږو د عالم ملکوت ورساوهٔ
لویه غوغا ئې په ښهر د دمشق برپا کړه. خلقو د ښهر په سبب د عجز صلاح او صلح مق
کړه او لک سرهٔ دینارونه ئې شکرانه د صلح ورکړهٔ. او په ځان ئې لازم کړهٔ چې هر کال د
هر یو مرد او ارتینه دوه سرهٔ دیناره په جزیه و اهل اسلام ته ورکوي. او ابوعبیدهٔؓ خمس
اموال په اخر د فتح د دمشق په خدمت د فاروقؓ واستوهٔ او باقي اولجه او لوټ ئې په ته
لښکر قسمت کړ او یزیدؓ بن ابي سفیان ئې په حکومت د دمشق مقرر او خود ئې له خا
سره په طرف د فحل (۲) توجه وړاندې کړه. او فتح ئې د مملکت وکړه او هم په دې کا
کښې ئې ښهر د بعلبک فتح کړ او له کافرانو د هغه دیار ئې ډیر په قتل ورسول. پس له ه
په قصد د قلعې د حمص متوجه شول. یو فوځ د ابوعبیدهؓ او بل د خالدؓ سره او هر فوځ د اس
شل شل زره سوارهٔ وو او په مفاصلې د دولسو کروهونو دواړه لښکره روان شول. هرقل چ
سردار د روم وهٔ هرګاه چې د اسلام له لښکره خبر شهٔ توذر (۳) چې سپه سالار د دهٔ وهٔ له
لک شل زره سوررو سره ئې و مخې ته د خالدؓ واستوهٔ. او سنش چې له جمله عزیزانو د دهٔ
هم له دې هومره لښکر سره ئې په مقابلې د ابوعبیدهؓ تعین کړ. هرګاه چې دا خبر و دوا
امیرانو ته ورسید دواړه یو ځایے شول او حقیقت ئې و امیر المؤمنین عمر فاروقؓ ته وکښا
طلب ئې د مدد او کمک وکړ خلیفه له اوریدو له دې خبرې عکرمهؓ بن ابي جهل (۴)
دولسو زرو سوررو سره ئې په مدد د دوي روان کړ. هرګاه چې توذر او سنش یو ځایے ج
شول ابوعبیدهؓ او خالدؓ آګاه شول. دوي هم یو ځایے جمع او متفق شول او جنګ ئې یوویش
ورځې یو دبله وکړ. په دا میان کښې خبر فاش شهٔ چې عکرمهؓ بن ابوجهل له ډیره سپاه
سبا به داخل د دوي په لښکر شي. خالدؓ تعبیه وکړه او وې فرمائیل چې دغه دولس زره سو
دې دولس فوځه شي او هر یو فوځ دې یو بل پسې ګروه په ګروه داخل په لښکر د اس
شي القصه دا دولس زره سوارهٔ له سبا تر ماښامه پورې په لښکر داخل شول او د اسلام لښ
ډیر تقویت پرې حاصل او کافران پرې شکسته دل شول. دوي وے سکه هر یو فوځ به دو

دولی زره سوارهٔ وي.

القصه جنګ او جدل ئې يو د بله آغاز کړ دري شپې او دري ورځې جنګ پيوسته او پےدر پے چې هيڅ رنګ لـه زينه کوز نهٔ شول وشهٔ. او هغه دري واړه ورځې په يوه يوه نامه مخصوص شوے او هره يوه نمونه د قيامت وه. دريمه ورځ چې سبا ئې فتح وه هغې ورځې ته يو الاغماس وائي. ابوعبيدهؓ او خالدؓ تضرع او په زاری په درګاه د حق تعالي خواست د فتح وکړ. او رسول الله ﷺ وسيله ئې د خپلې فتحې او د ظفر کړ هرګاه چې سبا شهٔ دواړه طرفه ئې بغاري د جنګ غږولے او ځوانان له دواړه لوريه په ميدان د جنګ راغلل خالدؓ [۴۱] يوهٔ جماعت ته لـه ابطالـو له عربو وفرمائيل چې خپل ځان په هر شان چې توانيږئ ورسوئ او ډوونه د زنګونو پړي دي کا چې په هاتيانو پوري دي چې اواز او هيبت د هاتيانو کم شي. يو جماعت له مړنيو د عربو خصوصاً جهجاه غفاري التجا و درګاه ته د پرودګار يوړه او له حق تعالي نه ئې توفيق او مدد او له روح پاکه او له قبره معطره ئې د حضرت رسول الله ﷺ دعا وغوښته او متوجه په فوځ د فيلانو شول او خپل ځان ئې په سل محنته او په زر خواری او په ډيرجنګ او جدل و هاتيانو ته ورساوهٔ. او طنابونه ئې پرې کړل او ځنو ځوانانو له عربو سپين هاتي په ويشتل د غشيو او په وهل د نيزو پريوست. هرګاه چې دريمه ورځ مازپښين شهٔ باد د فتح او نصرت اغاز کړ خالدؓ پخپله په فوځ د دوي حمله وکړه لکه اوره چې د باد له مخه تار پےمار شي. صفونه د کافرانو تار په تار پراګنده شول. او هغه زمان توذر سائبانونه په بلند ځاے چې پاس او مشرف پـه دواړه لښکره وهٔ وهلے او خپل مسکن ئې هورته ترتيب کړے وهٔ. له هغهٔ نه ئې ننداري کولے ځنې ځوانان کارګزار خصوصاً جهجاه (۱) غفاري خپل ځان په توذر برابـر کـړ. توذر خپل ځان و درياب ته واچوهٔ. اخر الامر جهجاه مری د توذر په خنجر آبدار پرکړه او غرق ئې په جهنم کړ هرګاه چې خبر د توذر د قتل و سنش ته ورسيدهٔ تاب ئې د برابـری رانـه وړ مخ ئې په تيښته ونيو او اتهٔ زره کافران په قتل ورسيدل. او له طرفه د اسلام څـور زره اووهٔ سـوه اتيا کسه په شمار د شهيدانو شول. او مسلمانان تر مرج الروم پوري په ماتي پسې لاړل. او لوټ تر حسابه زياتي په لاس د مسلمانانو راغے پس ابوعبيدهؓ او خالدؓ وفرمائيل اموال د اولجې ئې يو ځاے کړ او تر قلم ئې ويوست نور پنځک ئې ترې جدا او باقي ئې برابر پـه ځـوانـانـو قـسـمـت کـړ او متاع د پنځک ئې پـه اويا اوښانو بار کړ او عرضداشت د فتح ئې پـه خدمت د امير المؤمنين عمرؓ واستوهٔ. فاروقؓ متاع د پنځک په اصحابو او په کوروند د شهيدانو او مهاجرانو او انصارو قسمت کړ. القصه ابوعبيدهؓ او خالدؓ متوجه په ملک د مرج الروم شول او دا کوټ ئې حصار کړ. او پس له هفتې واخست شهٔ او

دا ملک په لاس د اسلام شهٔ. او ابوعبیدهٔ په مرج الروم کښې طرح د اقامت یعنې د استوګې وکړه او خالدؓ په طرف د قنسرین (۲) او هغه کال ئې دلته تیر کړهٔ. هر ګاه چې دا رنګ فتح په نامه د خالدؓ مهر شوه خلق الله له اطرافه او له جوانبه په دیدن د خالدؓ راتهٔ او مبارکبادي او تهنیت ئې وایهٔ او یو له دیو راتلونو چې اشعث بن قیس کندي وهٔ عربي قصیده ئې په مدح کښې د خالدؓ ووې او خالدؓ لس زره درمه په صله یعنې په انعام د قصیدې ورکړهٔ. هر ګاه چې خبر حضرت عمرؓ ته ورسید ډېر له خالدهٔ ازرده شهٔ له هغه ځایه ئې معزول کړ او خان ته ئې وبالهٔ. هر ګاه چې په ملازمت د امیر المؤمنین مستفید او سرفراز شهٔ عمر فاروقؓ ډېر خطاب او عتاب [۴۲] پرې وکړ وې پوښتیدهٔ چې دا لس زره درمه چې اشعث ته دې کرامت کړهٔ له کومه وو؟ کهٔ ګنج دې موندلے دے او له هغه ګنجه دې ورکړے دے؟ اقرار په خپل خیانت شوے او کهٔ له خپله ماله دې ورعطا کړهٔ یقین چې اسراف دې په خپل مال وکړ. (۱) خالدؓ خاموش پاتو شهٔ او فاروقؓ بیا په خدمت روان نهٔ کړ. پس له هغه خالدؓ کور کښیناست او اکثر اوقات به خلیفه و خان ته بالهٔ او تکلیف به ئې د خدمت هم ورته کاوهٔ. اما دهٔ خدمت بیا نهٔ قبلوهٔ. (۲) هر ګاه چې امیر المؤمنین عمرؓ وفات بیاموند او کار د خلافت په حضرت امیر المؤمنین حضرت عثمانؓ مقرر شهٔ خالدؓ ئې په نیول د عراق د ولایت نامدار او نامزد کړ او سعد وقاصؓ ئې په بل طرف او په برکت د دوي د تیغ یزدجرد چې وروستے بادشاه له اکاسره ؤ وهٔ او له نسله د کسریٰ (نوشیروان) وهٔ په جنګ کښې په قتل ورسیدهٔ. او دا ولایت په تسخیر د اسلام راغے او په سعي د دوي دواړو سپه سالارانو اکثر ولایت د عراق مفتوح شهٔ. او کافران د هغه دیار اکثر په اسلام مشرف شول او ځنې په خواری او خجالت د جزیې او د زکات او د خراج ګرفتار شول. القصه خالدؓ په نیمائي خلافت کښې د امیر المؤمنین حضرت عثمانؓ په جوار د حق تعالي د رحمت پیوسته او متصل شهٔ. (۳) او عبدالرحمٰن او عبدالله فرزندان د خالدؓ په امارت او سرداری او تسخیر د خراسان منسوب او نامدار شول. عبدالرحمٰن په نیشاپور او عبدالله په هرات. او مستوفي په تاریخ ګزیده او مصنف د مجمع الانساب دا رنګ راوړي دي چې هر ګاه نُور د رسول الله ﷺ هویدا او خالدؓ په شرف د دین د پیغمبر ﷺ مشرف شهٔ ګروه د عربو او نور خلق الله مخ په مدینه مشرفه ونیوهٔ چې له پرتوه د نور د رسول الله ﷺ معزز په اسلام شي. په هغه وخت خالدؓ خط په طرف د بني افغان چې په کوهستان کښې ئې د غور ځاے نیولے او له زمانې د بخت نصر چې اخراج د بني اسرائیل له لاسه د دهٔ او په هغه مکان کښې ئې وطن اختیار کړے وهٔ، واستوهٔ. او له ظهوره ئې د جمال محمدي ﷺ اګاهي او خبر ورکړ هر ګاه چې کتابت د خلدؓ و هغه قوم ته ورسیدهٔ څو کسه

له سردارانو د هغه قوم متوجه و مديني ته شول. او سردار له خيله د بني افغان قيس نوميدهٔ او زنځير ئي د نسب په اوهٔ ديرش واسطي يعني پيړی و ملک طالوت او په پينځهٔ څلويښت و مهترخليل الله او دري شپيتهٔ پيړی و مهتر آدم صلوات الله علي نبينا و عليهما ته رسي. او صاحب د مجمع الانساب ئي پيړی دا رنگ په قيد د کتابت راوړي دي چې قيس د عيص او عيص د سلول او سلول د عتبه او عتبه د نعيم او نعيم د مره او مره د جلندر او جلندر د اسکندر او اسکندر د رمان او رمان د عنين او عنين د مهلول او مهلول د شلم او شلم د صلاح او صلاح د قادر او قادر د عثم او عثم د فهلول او فهلول د کرم او کرم د عمال او عمال د حذيفه او حذيفه د منهال او منهال د قيس او قيس د عيلم او عيلم د اشموئيل او اشموئيل د هارون او هارون د قمرود او قمرود د ابي او ابي د صهيب او صهيب [۴۳] د طلل او طلل د لوني او لوني د عاميل او عاميل د تارج او تارج د ارزند او ارزند د مندول او مندول د سلم او سلم د افغنه او افغنه د ارميا او ارميا د سارول او سارول ملقب په ملک طالوت او طالوت د قيس او قيس د عتبه او عتبه د عيص او عيص د روئيل او روئيل د يهودا او يهودا د يعقوبؑ او يعقوب اسرايل الله د اسحٰق او اسحٰق د مهتر ابراهيم خليل الله او ابراهيم خليل الله د تارخ چې آزر به ئي هم ورته وئيل او آزر د ناخور او ناخور د سروغ او سروغ د ساروغ او ساروغ د هود عليه السلام او هود عليه السلام د غابر او غابر د شالخ او شالخ د ارفخشد او ارفخشد د سام او سام د مهتر نوحؑ او مهتر نوحؑ د لمک او لمک د متوشلخ او متوشلخ د مهتر ادريسؑ او مهتر ادريسؑ د يزد او يزد د مهلائيل او مهلائيل د انوش او انوش د مهتر شيثؑ او مهتر شيثؑ د آدم عليه السلام. القصه هغه جماعت پس له داخليدو په مديني په دلالت د خالدؓ په ملازمت د رسول الله ﷺ مشرف او کامياب او په دولت د اسلام ممتاز او سرفراز شول. او حضرت ﷺ به باب د دوي رنگارنگ مهرباني او نوازش وفرمايهٔ. او نوم ئي د هر يوهٔ وپوښتيدهٔ. پس له هغئي وفرمائيل چې قيس نوم د دې عبراني او مونږ عرب يو له مخه ئي د مهرباني نوم د قيس عبدالرشيد کړ او وې فرمائيل چې هرگاه تاسو اولاد د ملک طالوت ياستئ او طالوت حق تعالیٰ په قرآن مجيد کښې په خطاب د ملک مقرر کړے دے بهتر دا دي چې تاسو ته هم ملک وائي. هرگاه چې حضرت رسول الله ﷺ له مديني نه ئي په فتح د مکې معظمې قصد وفرمايهٔ عبدالرشيد ئي له خالدؓ سره تعين کړ او هغه ورځ له دهٔ نه ښهٔ کارونه او تدبير او تردد په وجود راغلے او اوايا کسه له قريشو د عبدالرشيد له لاسه په قتل ورسيدل. او هم هغه ورځ په ژبان وحي ترجمان د رسول الله ﷺ جاري شول چې حق سبحانه تعالي به له نسله د دهٔ خوان عظيماولاد پيدا کا او په جمعيت او محکمی د دين او بل په زور د قبيله داری به په اکثر عالم

غالب وي. او زهٔ جبرائيلؑ اګاه کړم چې سختي او محکمي د دې ګروه په مثال د هغه لرګي د
چې پـه هـغـه لـرګي بنياد د جهاز کيږدي. او هغه لرګي ته هغه څوک چې سکونت په دريا
لري او په کار د جهاز واقف وي پټهان وائي. الغرض عبدالرشيد ئې په خطاب د پټهان مخاطب
کړ او له هغه ورځې دا لفظ جاري او مستعمل شهٔ. رفته رفته اسم پټهان قرار بيامونده او په يم
د حـضـرت رسـول الله ﷺ د فـرمـائيلو له دې قومه ډير زاهدان او درويشان او اولياء صاحب
حـال او صـاحـب قـال په ظهور راغلل. القصه عبدالرشيد سرور کائنات فخر موجودات ﷺ
رخـصـت کړ چې هورته په ملک د غور او کوهستان د هغه حدود لاړ شي او احکام د شريعت
تـلـقين کا او قيس چې په اسم د عبدالرشيد او په خطاب د پټهان ممتاز وهٔ. په يو څلويښتم کال
لـه هجرت د رسول الله ﷺ وفات بيامونده. او مدت د حيات ئې اوهٔ اتيا کاله وهٔ. اګر چې ک
دا خبـر لـه احـاديـث ثـابـت نـهٔ دے امـا په بعضې تواريخونو کښې [۴۴] لکه ګزيده او مجمع
الانسـاب راغـلـے دے او مثـال د دې خبـرې پـه مثـال د هغو خبرونو دے لکه په کتابونو کښ
راوړي شـوي دي چې پيغمبر ﷺ قميص د اويس قرني ته او ډمنځ ئې ابوالرضا ته ورکړه چ
و شيـخ عـلـي لالا غزنوي ته ئې ورسوي. دا احوال هم په دا منوال دے او الله تعالي واقف عا
په حقيقت دے. (ﷺ) الـقـصـه دې ګروه مخ په ډير والي او کثرت ونيو او عبدالرشيد پټهان ته ا
تـعالي درې فرزند کرامت کړي وو يو سړبنے او دويم بيټنے او نوم ئې د دريم غورغښتے کړ
او لـه هـر يـوهٔ نـه هـومـره اولاد حق تعالي په وجود راوړ چې مافوق تر بيانه او تر تحرير دي ا
خـود احـوال ظـاهـر او عيـان او د عيـان کـوم بيـان دے هـرګاه چې عبـدالملک بن مروان
سـلـطـنـت د هغه حدود استقلال بياموند او حجاج بن يوسف ثقفي سپه سالار او مدار المهام
هـغهٔ عماد الدين محمد قاسم چې خورزيے د دهٔ (۲) وهٔ پـس له شپږ اتيا له هجرت په تسخير
سيـوستان او هغې نواحي تعين کړ. پس له قطعې د لارې او د منزل هرګاه چې په نواحي د غو
ورسيـدل يو جماعت د دوي له طائفې له خانه مل کړ او په باب ئې د دوي انواع انواع مهربان
او نـوازش وفـرمـايـهٔ. هـغـه ولايـت ئې مفتوح او مسخر کړ او اتهٔ کاله ئې په دغه ديار استو ګ
وکړه. او راجـه ئـې د هـغـه ځـاے پـه قتـل ورساوهٔ او ډير مال او متاع پـه لاس د اهل اسلا
کښيـوت. عـمـاد الـديـن محمد قاسم په صلاح د حجاج بن يوسف جماعت د افغانانو و خپل
وطن ته له ښهٔ انعام او له ښهٔ عزته رخصت کړ. پس له هغه په سن د څونصو څلور (۳) حق تعال
سـلـطان محمود غازي په سلطنت مقرر کړهٔ او ملک د خراسان او د عراق او د ماور النهر ت
حـدود د دريـائـے سـنـد پـه قبضه د دهٔ د تصرف ورغـے او اتهٔ کسه له سردارانو د افغانانو چ
نومونه د ديو په کتابونو د تواريخ کښې دا رنګ مستور دي. يو ملک خانو او ملک عامون

او مک داؤد او ملک یحییٰ او ملک احمد، ملک محمود (ملک محمد) ملک عارف، ملک غاري په ملازمت د سلطان محمود غازي راغلل او په شرف د ملازمت مشرف شول: هر ګاه چې بزرګي د حسب او د نسب په جبین کښې د دوي ښکاره او مبرهنه وه سلطان په حق د دوي رنګارنګ نوازش په تقدیم راوړ او ښهٔ ښهٔ خلعتونه او نقد او جنس او ښهٔ اسونه او تیغنه ئې ورته عنایت کړهٔ. او نور ئې له خانه په قصد د غزا د سومنات روان کړهٔ. هرګاه چې په ملک د دابشلیم چې سرحلقه د هغه ملک د راجګانو وهٔ ورغلل دابشلیم ئې ولواوهٔ او بت خانې ئې د هغه ملک خرابې او ویرانې او کفرستان ئې پائمال کړ او هر ځاے چې کار یا سخت مهم به مخ ښکاره کړ دا جماعت به ئې د پښتنو پرې تعین کړ حق تعالي به هغه مهم مولنق د سلطان د مدعا په ښهٔ وجه میسر کړ او سلطان محمود درې کاله په سومنات کښې مستعد په مهمات (۴) وهٔ. هرګاه چې ښهٔ خدمتونه او ښهٔ ترددونه ئې د دوي مشاهده کړهٔ قرب او نزدیکت او منزلت ئې د پښتنو په درجه د اعلي ورساوهٔ او په لږ مدت کښې ارکان د دولت او اعیان د مملکت شول ( ) او اکثرو مهمونو په تدبیر د دوي [۴۵] صورت د مراد موندهٔ او تر حیات د سلطان محمود چې اتهٔ دیرش کاله وهٔ معزز او مکرم او دولت مآب او صحب حشمت وو. هرګاه سلطان محمود په ورځ د پنجشنبې په سن ۴۲۴ د سل شل څلور له هجرت د پیغمبر ﷺ له دې جهان فاني و عالم باقي ته کوچ وفرمایهٔ. (۱) سلطان محمد او سلطان مسعود فرزندانو د سلطان هم دا جماعت معزز او محترم ساتهٔ. هرګاه چې چراغ د سلطنت د آل د سلطان محمود سبکتګین پس له سل شپیتهٔ او اتهٔ کاله په باد د فنا مړ شهٔ. تخت سلطنت د هغه ملک په سلطان د غور زیب و زینت بیاموندهٔ. او سلطان شهاب الدین غوري (مشهور په سلطان معز الدین محمد بن سام غوري(۲)) په تخت د غزني جلوس وفرمایهٔ. نور قصد ئې په تسخیر د هند وشهٔ. او څو خله له غزني و هندوستان ته راغے اول خل د لاهور له حده وجاروت او دویم خل ئې د نهر واله له ولایت بې مراده مراجعت ئې وفرمایهٔ.(۳) دریم خل ئې دولس زره پښتانهٔ له اطراف او له نواحي د غور طلب کړهٔ او له خانه ئې روان کړهٔ. حق تعالیٰ ئې فتح او نصرت نصیب او راجه پتهو رائے چې سردار د هندوستان د راجګانو وهٔ په قتل ورساوهٔ هالهٔ وجارووت.(۴) پس له هغه سلطان شهاب الدین ملک معز الدین ته چې عالیشان امرا د دهٔ وهٔ وفرمایل چې اقوام د تمام افغان له کوهستانه د غور راروان کړه. په اطراف او جوانب ئې د غزني د غورونو متوطن او اباد کړه. چې هم محافظت د مستقر خلافت او هم کافران د هندوستان پائمال کا. ملک معزالدین مطابق د حکم دا جماعت د پښتنو خانه کوچ له کوهستانه و غور(۵) ته راروان کړهٔ او په اطراف د قندهار او د غزني ئې

واچول. دا ملک د روه چې تر حد د لوحاني او سواد او تيراه او خيبر او پښاور او اشنغر دے له کفارو اکثر له جهاد د سلطان محمود له وخته خالي پاتو شوے وو اکثر باشنده ئې په تې مرۀ بعضې په لور د هندوستان ورک شو يو جزوي عالم ئې کۀ پاتو وۀ لکه سواتي او لغماني او ديګان او تيراهي کم قوته وو اول دلازاک په پښاور راغے دا ملک ئې خنې راونيوۀ بيا درې تپې غوريه خيل راغے له خښې سره له دلازاک ئې دا ملک ونيوۀ. دلازاک په حادثه په هندوستان متفرق شۀ. دفعه په دفعه ئې دا ملک د روه واړه ونيو او کوه سليمان او له نواحي د قندهاره تر سرحده د ملتان ئې ابادان کړ (٦) او روه عبارت له هغه غرۀ دے چې طول ئې له سواته او له باجوړه تر نواحي بهکر او عرض ئې تر بابا حسن ابدال دے. او کابل او قندهار په حدود کښې د دغه غرۀ واقعه دي. او کوه سليمان او غر د اشنغر په ميان د دۀ غرۀ دے. او اول ښهر د کوهستان پس له راتلو د دوي چې ابادان شۀ پښاور (٧) دے. (کوم وخت چې ملک معزالدين پس له ابادولو د دوي په ملازمت د سلطان حاضر شۀ سلطان ډير خورم او خوشحال شۀ او اباداني ئې د دې طائفې موجب د فتحې د هندوستان تصور کړه او په واقع کښې وه هم دغه شان) القصه په باب ئې د دوي ډير نوازش او سرفرازي وفرمائيله. او هر يو قوم ته له قومونو د پښتنو ئې په دا نواحي کښې جاګير ورکړۀ. هرګاه چې د دې طائفې [٣٦] په دا سرزمين کښې قرار او سکونت ونيوۀ. ورخ په ورخ ئې غلبه او قوت زياتيدۀ او هر کال به ئې له کافرانو د هندوستان جنګ و جدل کاوۀ. کوهستان ئې له غبار د کفره پاک او پاکيزه کړ هرګاه چې سلطان شهاب الدين په تسخير د هندوستان لښکر ظفر اثر روان کړ ملک محمود افغاني چې لودي او جمعيت ئې د قبيلې تر واړو ډير وۀ له دولسو زرو سورو سره ئې مقدم او پيش رو د خپل لښکر کړ. هرګاه چې لاهور ته ورغے خسرو ملک چې وروستے له سلطانانو د غزني وۀ د لاهور په کوټ ئې حصار کړ پس له قوله له قراره خسرو ملک راغے او شرف د ملازمت ئې حاصل کړ. (١) هرګاه چې سلطان شهاب الدين امانت د ژوندون وسپارۀ. سلطان قطب الدين ايبک بادشاه شۀ او دۀ په احوال د دې طائفې مهرباني او نوازش لا ډير وفرمايۀ. او څو تنه له دوي په مرتبه د امارت ورسيدل. او له هغه وخته تللو راتللو د دې ګروه و هندوستان ته رواج بيامونده او په حضور د دهلي د سلطان ډير مکرم او معظم وو هرګاه چې په سن د اتصو يو (٨٠١) کال امير تيمور چې صاحب قران وۀ تسخير د هندوستان ئې په رائے عالم آرائے مصمم کړ او مخ ئې په هندوستان ونيو. ملک خضر لودهي او ملک بهاء الدين جلواني او ملک يوسف سرواني او ملک حبيب نيازي (او ملک احمد شيراني او ملک ياسين اورمړ)(٣) ته ئې فرمان واستوۀ او له ملک ئې د روه او له کوه سليمانه او غيره

نې طلب کړۀ. دوي له دولسو زرو سورو سره چې واړه آزموده او کارګزار وو په شرف د ملازمت مشرف شول. امير تيمور هر يو ته بنۀ اس او توره او خلعت عنايت کړ او نوازش او سرفرازي نې ډيره وفرمائيله. او په رکاب فتح مآب کښې نې روان کړۀ او په لارې د کول جلالي(۳) له سپاه سره متوجه په دهلي شۀ. هرګاه چې په ملتان داخل شۀ مرزا پير محمد چې له فرزندانو د امير تيمور او له ملاحظې د زميندارانو په قلعه کښې حصار وۀ او قوت نې وتلو ته، ولايت نۀ درلۀ په تشريف د صاحب قران د ورتلو نې خلاصے بياموند. په شرف د ملازمت سرفراز او په عنايت او التفات معزز او مکرم شۀ. هرګاه چې اسونه د شاهزاده خوان بخت په پشکال کښې د هندوستان تلف شوي وو اکثر پياده خوک په غويو سوارۀ وو صاحب قران چې لاس د بخشش نې فخر په درياب او په وريخ کاوۀ. ديرش زره اس نې په يوه مجلس کښې و ميرزا ته چې خوان بخت کامګار وۀ او سپاه ته نې د دۀ وبخښل. او له ديپلپوره(۳) و لاهور ته راغے او خطبه نې په خپله نامه شروع او سکه نې سازه کړه. او په طرف د دهلي متوجه شۀ. ملو خان چې حاکم د دهلي وۀ متنفر او فراري شۀ او دهلي په لاس د اولياؤ د دولت راغله او په اوولسم تاريخ د ربيع الاول په سن مذکور په نامه د امير چې صحب اقتدار وۀ خطبې او سکې په هندوستان زيب او زينت بيامونده. او يوه هفته په غاړه د حوض خاص ديره وۀ. هرګاه چې خاطر اشرف نې له دهلي جمع شۀ په اميد د ثواب په غزا د کافرانو په طرف د کوه سوالک نې عزيمت وفرماية. او په اوله ورځ نې قلعه د ميرتهه (۴) فتح او کافران فاجران نې په قتل ورسول او ډير دولت په لاس د اولياؤ د دولت کښيوت او ملک بهاؤالدين (۵) په دا جنګ کښې د سوالک په درجه د شهادت مشرف شۀ. تيمور باشده فرزندان او اقربا[۴۷] د دۀ طلب کړۀ. او خپل خاص خلعتونه نې ورته مرحمت او په رنګارنګ نوازش نې سرفراز کړۀ. او پرګنه د خضر آباد (۱) او سادهوره(۲) له ميانه د دوآبې او پرګنه د سيالکوټ له څو نورو محالونو چې متعلق د پنجاب وو دوي ته نې عنايت او مرحمت کړۀ او خضر خان چې له بنو مقربانو د سلطان فيروز شاه وۀ حکومت نې د دهلي او د هندوستان ورته تفويض کړ او خود په طرف د سمرقند چې ځاے د تخت د سلطنت وۀ په لارې د کابل په طريقه د دورے(۳) متوجه شۀ. او ملک حبيب او ملک يوسف او نور سرداران نې د افغنهؤ له کابل نه رخصت کړۀ او په زمانه د خضر خان د حکومت اکثر دوي په مرتبه د ايالت او امارت ورسيدل او تلل راتلل د دې ګروه په لار د هندوستان وشول. او سلطان شاه لودي امرا د سيد خضر خان او سلطان مبارک شاه شۀ. او سرهند نې په جاګير کښې بيامونده. پس له هغه کار د ديو ورځ په ورځ په ترقی وۀ لکه زر به دا مذکور په قيد د

کتابت راشي هر گاه چې غرض له مسودې د دې کتاب بيان د راتلو او ابادان کيدل د دې جماعت وۀ او دا له زماني د سلطان محمود غازي تراوسه پورې چې اوۀ سوه يوويشت (۴) کاله وشول چې دې طبقې په غورنو کښې ځاے او مسکن نيولے دے. هرگاه چې مقصود دا وۀ چې بيان د احوال د دې جماعت چې په تخت د خلافت متمکن او سلطنت ته رسيدلے دے وکيبن شي څکه په کښل د سلطان بهلول لودي چې په ملک ني د هندوستان تُغ د خلافت بلند کړے دے او پس له زماني د خالدٌ اول تر دۀ په دا گروه والا کښې په تخت د سلطنت بل ناست نۀ دے مشغول شوم. والله ولي التوفيق.

فصل اول په ذکر د سلطان بهلول فصل دويم په مذکور د سلطان سکندر فصل دريم په مذکور د سلطان ابراهيم. د سلطان بهلول احوال له مؤلفه د ابراهيم شاهي د تاريخ مصنفه (د تاريخ) نظامي منقول دې چې ملک بهلول لودي ورارۀ د سلطان شاه لودي دے او په زمانه د سلطان مبارک شاه (د) (۵) سيد خضر خان چې اسلام خان ني خطاب (۶) وۀ او له عمده ؤ امرايانو د هغه وخت وۀ او پرگنه د سرهند په جاگير کښې د دۀ وه او حکومت ني د هغه طرف کاوۀ هرگاه چې نخښې ني د رشد او د قابليت په خپل وراره کښې ليدے دې ني په روش د فرزند پرورده کاوۀ او په وخت د وفات ني قائم مقام په خپل ځاے کړ او خان تې و حق ته وسپارۀ. ملک بهلول پس له وفاته د اسلام خان حاکم د سرهند تمام استقلال پيدا کړ. (۷) او قطب خان چې څوے د اسلام خان وۀ مخ ني له ملک بهلول وجاريوست و سلطان محمد ته چې په هغه وخت بادشاه د دهلي وۀ ورغے او له ملک بهلول نه ني شکوه او شکايت وکړ سلطان محمد په مجرد د اوريدو د دې خبرې حاجي شدني(۸) چې په خطاب د حسام خاني سرفراز وۀ له ډير قوته ني په سر د ملک بهلول روان کړ پس له مقابلې په نواحي د خضر آباد عظيم جنگ واقعه شۀ. (۹) او حسام خان شکست بيامونډ او دهلي ته لاړ او ملک بهلول له دې فتحې ډير [۴۸] قوت او دولت ني بيامونډ. نقل دے چې ملک بهلول په هغه وخت چې په خدمت د خپل ترۀ چې اسلام خان وۀ مشرف وۀ. په سبب د بعضې ضرورې کارونو وسامانې ته لاړ وۀ خبر شۀ چې سيدابن (۱) نوم ني يو بزرگ دے دلته سکونت لري په اتفاق د دوؤ دريو مصاحبانو په خدمت د دې بزرگ راغے. او په تمام ادب ورته کښيناست هغه مجذوب وفرمائيل چې په تاسو کښې څوک شته چې بادشاهي د دهلي په زر تورې(۲) له ما واخلي؟ ملک بهلول زر تورې په خدمت د بزرگ حاضرې کړے. (۳) هغه درويش وفرمائيل چې بادشاهي د دهلي په تا مبارک شه او هغو مصاحبانو ني تبسم او تمسخر وکړ. ملک بهلول ووې چې دا حال له دوه کاره خالي نۀ دے کۀ فرمائش د درويش په ځاے راغے پس

تـعـت د دهـلـي پـه لاس مفت کـښيوت او کهٔ نه خدمت د درويشانو نتيجه او ثواب د اخرت لـري. او هـغـه چې په بعضي تواريخونو کښې وائي چې ملک بهلول تجارت کاوهٔ. په تحقيق پيـ ست شوي نهٔ دي. شايد چې پلار او نيکهٔ ئې تجارت کړے وهٔ. القصه ملک بهلول پس له وفاتـه د اسلام خان په اتفاق د ملک فيروز چې ورور د اسلام خان او د دهٔ تره وهٔ او په ونيل د نـو و عزيزانو ئې سرهند په خپل تصرف راوړ او قوت او استعداد ئې پيدا کړ او په فرمانش د هـغه درويـش هـميشـه ئـې همائے د همت په هوا د سلطنت وهٔ او طالب د دهٔ شهٔ. چې مرغه د سـطنت په دام د اميد قيد کا. پس له فتحه د حسان خان ملک بهلول عرضداشت مشتمل په بـدافعالي او فساد د حسام خان او خپل اخلاص او عقيدت په خدمت د سلطان محمد وکيښ او ‹وان نـې کـړ او پـکښـې ئې کښلي وو چې کهٔ حاجي حسام خان په قتل ورسي او منصب د وزارت و حميد خان ته تفويض او تسليم شي (۴) په دا شرط به بنده مطيع او فرمانبرداره شي.

سلطان محمد په مجرد د عرضداشت د مطالعې حسام خان بې گناه مړ کړ او حميد خان ته ئې وزارت عـنـايـت کـړ مـلـک بهـلـول او نـورو لودېو له اوريدو د دې خبرې له مخه د اخلاص شـرف د مـلازمـت د سـلطان حاصل کړ او جاگير د دوې بيا سر له سره په قديم دستور برحال پـاتې شهٔ. پس له هغه ملک بهلول له طرفه د سلطان له سلطان محمود خلجي(مالوي)(۵) سره جـنـک وکـړ فتـحـه ئې بيامونده. سلطان دې په خطاب د خان خانان سرفراز کړ او لوديو ورو وروقـوت پيـدا کړ او نښان ئې د مخالفت بلند کړ او جمعيت ئې پيدا کړ او په سر د سلطان مـحـمد و دهلي ته روان محاصره او حصار ئې کړ اما اخستل د دهلي ميسر نهٔ شول و سرهند ته روان شهٔ او ملک بهلول خپل خان په سلطان بهلول مخاطب کړ او سکه او خطبه ئې په سر د دهـلـي مـوقـوفـه کړه. په دا ميان کښې سلطان محمد وفات شهٔ. (۶) اعيـانو د دولت او لويو امـراگـانـو سـلـطـان عـلاؤالـدين چې خـوړے د سلطان محمد وهٔ په تخت کښيناوهٔ. نور تمام هندوستان ملک طوائف شهٔ يعني بادشاهي په يوهٔ بادشاه مقرره نهٔ شوه او اول د خنو پرگنو يو د خنـو بـل خـاے پـه خـاے بـادشاهي او امارت شهٔ اود لوديو دسترس حاصل شهٔ. لکه له پاني پتـه ۴۹] تـر لاهـوره ترهانسي (۱) حـصار (۲) او تـر ناگوره (۳). او تـر سـرحـده د ملتان دا په تصرف د سلطان بهلول وو. او مهرولي (۴) تر لادو سرايه(۵) دا ملک د احمد خان ميواتي په قبـضه وهٔ او ولايت د سنبل (۶) تـر پـرگنې د لونې د دريا خان لودي په لاس کښې وهٔ. او کول جلاي(۷) او پرگنې چې په دا نواحي کښې وے د عيسیٰ خان ترکچه (۸) په ضبط کښې وے. او دقـطب خان ريپري (۹) او چنداوړ (۱۰) او اټاوه (۱۱) پـه لاس کښـې وو او د رائے پرتاب بهوگانو (۱۲) او کنپله(۱۳) او پټيالي(۱۴) په تصرف وو او بيانه (۱۵) د داؤد خان اوحدي

پـه دسـت کښـې وه. او په ګوالير (١٦) او دهولپور (١٧) او پـه بهداور (١٨) کښـې عليحده راجـګان وو. او په ملک د ګجرات (١٩) او مالوه او مانډو (١٩) او جـونپور او په بهار کښې ځـاے پـه ځـاے هـر يـوهٔ مـلـوک استقلال بيامونده‌. القصه دويم ځل سلطان بهلول جمعيت او سپاه آماده کړ او له سرهند نه ئې مخ په دهلي ونيوهٔ. اما کوټ د دهلي اخستے نهٔ شهٔ. بيا ئې و سرهند ته مراجعت وفرمايهٔ. په دا ميان کښې سلطان علاؤ الدين له قطب خان لودي او له رائے پـرتـاب سـره پـه بـاب د خپـل تقويت مصلحت وکړ دوي ووې چې کهٔ سلطان حميد خان له منصبه د وزارت معزول او بيا ئې په قيد کا مونږ به خو پرګنې له تصرفه د امراګانو خلاصې او داخـلـې بـه ئـې په خالصهٔ شريفه کړو. سلطان علاوالدين حميد خان په قيد کړ نور ئې له هغه ځايه کوچ و برهان (٢٠) اباد ته وکړ. قطب خان او رائے پرتاب هورته حاضر شول او شرف د ملازمت ئې حاصل کړ او په عرض ئې ورسول چې څلويښت پرګنې په سرکار داخله وو. اما په دا شرط کهٔ سلطان حميد خان مړ کا او دا عداوت او دښمني په دا وه چې پخوا تر هغه پلار د حـمـيـد خـان ولايـت د رائے پـرتاب لوټ او تاراج کړے او ارتينه ئې تړې رانيولې وه. په دا سبـب پـه هغه انتقام ئې سلطان په قتل د حميد خان باعث کړ. سلطان علاوالدين چې هنر ئې د سـرداری زده نهٔ وهٔ بې فکره او بې تامله ئې په مرګ د حميد خان حکم وکړ په دا ميان کښې ورونـه د حـمـيـد خـان خبر شول په هره چې توانيدل حميد خان ئې له قيده خلاص په تيښت و دهـلي ته لاړل. ملک محمد جمال چې نګهبان او ساتونے د دهٔ وهٔ په پے د دهٔ و دهلي ته روان شـهٔ او له حميد خانه ئې جنګ برپا کړ. محمد جمال ئې په نيزه وواههٔ او مړ شهٔ او ډير عالم له حـمـيـد خـانـه مـلـهٔ غوغا او شهرت ئې پيدا کړ. نور حميد خان و محل ته د سلطان علاوالدين راغـے قبيلـه او فـرزنـدان د سـلـطان ئې په زور و ضرب او په رسوايي له کوټه د دهلي اخراج کـړهٔ. او نـقـد او جـنـس او خـزانې ئې واړه په خپل تصرف کړے. او سلطان علاوالدين له کم همتی د نن ورځ انتقام ئې و سبا ته پريښ. او په سبب د برسات ئې په ښهر کښې د بداؤن (٢١) تـوقف وکـړ هـرګـاه چې حميد خان په دا فکر سر شهٔ چې په ځاے د سلطان علاوالدين بل يو قـائـم کـا. ملک بهلول له اوريدو د دې واقعې له سرهنده متوجه و دهلي ته شهٔ. او حميد خان ئـې حـصـار کـړ امـا دا تـوان ئـې نـهٔ وهٔ چې په زور ئې دا کوټ واخستے. پس له قوله له قراره مـلازمـت ئې د حميد خان وکړ او بنا برمصلحت ئې طريقه د تواضع او د مدارا په لاس ونيوه او هـره ورځ پـه مـلازمت د حميد خان [٥٠] ورتهٔ. او په دا فکر وهٔ چې په يوهٔ نوع حميد خان برطرف او نښان د سلطنت په خپل مخ کښے کا. ځکه ئې هغه پښتانهٔ چې تازه له ولايته راغلي وو هغه به ئې له خانه تل بيول او تعليم ئې ورته کړے وهٔ چې تاسو په مجلس کښې د حميد

خن هسې فعل او گفتار چې لرې له فهمه او له عقله وې يو د بله کوئ. چې تاسو ورته سپک او سهل ښکاره شئ او دې تاسو ترس او هيبت د دۀ له زړۀ نه پاځي. پښتنو به په حضور د حميد خان خنو خپل پيزار په سر او خنو به په ملا وتړل او خنو به پاس په طاق کښيښول او خنو پښتنو به حميد خان ته په عرض ورسول چې دې تا فرش عجب ښائسته او رنگين دے کۀ چرې لږ ډير ترې مونږ ته عنايت شي د فرزندانو دپاره به ټوپې او تاقې(١) ترې سازې کړو او کوهستان ته به ئې په طريق د تحفې واستوو چې تمامه قبيله معلوم کا چې دې مونږ دې تا په خدمت کښې عزت او حرمت تمام شته. او حميد خان به له دې حرکاته او سکناته او افعاله او قواله نه تبسم کاوۀ او په خواب کښې به ئې ورته وئيل چې دې تاسو د فرزندانو دپاره به تر دا هتر وريښمين او پشمين درکړم. او هرگاه چې د خوشبويۍ خوانونه به ئې راوړۀ بعضې پښتنو به خووه په ژبه څټله او بعضو به ارگجه خوړله.(٢) او بيړې د پانو به ئې پرانتې تر بيړو پخوا به ئې چونه په خلۀ کړه. (٣) دا رنگ کارونه لرې له عقله ئې کول. حميد خان له سلطان بهلول نه پرسش وکړ چې دا دا قسم افعال او اقوال په څۀ وجود ترې راځي؟ سلطان بهلول ووې چې دا استوگه او سکونت په غرۀ لرې او له خلقو سره ئې گډون او اختلاط کم دے او بې له خوراکه او له څښاکه ئې بل ذکر فکر نشته او طريقه او عادت ئې دا رنگ دے چې کا. يو ځل حميد خان ملک بهلول ته مهماني ترتيب کړه. په اشارت د ملک بهلول پښتنو دربان وواهۀ او په زور نيک و بد ننوتل او وئيل ئې چې مونږ هم نوکران د حميد خان يو له سلامه ئې په څۀ منع کيږو هرگاه چې غوغا او شور و شر زيات شۀ حميد خان پوښتنه وکړه. پښتنو ملک بهلول ته بد وئيل او ننوتل او وئيل ئې چې مونږ هم په رنگ د ملک بهلول دې تا نوکران يو. دې نه ووت مونږ به ولې دربار ته نۀ ننه ووځو. حميد خان ووې پرېږدئ چې دوئ هم رانـنه ووځي. پښتنو په يو ځل هجوم وکړ او ننوتل او په څنگ کښې د هر يوۀ له متعلقاتو او سپاهيانو د حميد خان دوه دوه تنه پښتانۀ له وسلو سره کښيناستيدل. او څنې ودرېدل. هرگاه چې مجلس د طعام تير شۀ قطب خان لودي خولنې له بغل وکښې او د وړاندې ئې د حميد خان کښيښوے. او وې ويل چې څو ورځې گوښه اختيار کړه او په سبب د نمک دې تا په مرگ رودادار نۀ يو. پس له هغه ئې حميد خان په قيد کړ او په خپلو مؤکلانو ئې وسپارۀ. سلطان بهلول په غره د ربيع الاول سن اتصو پنځۀ پنځوس (٨٥٥) وۀ چې په تخت د سلطنت جلوس وفرمايۀ او سکه ئې ښکاره او خطبه ئې آغازه کړه. پس له هغه ئې خاص و عام او وضيع او شريف [٥١] په داد او دهش خوشنود او رضامند کړۀ. نور ئې هغه هومره اړکانان چې تار په تاړ او متفرق وو له خان سره ئې متفق او ملۀ کړۀ او سلطان علاؤ

الدين ته ئې عرضداشت وکيښ چې هرگاه زهٔ پرورده دې تا د پلار په نمک يم حميد خان چې نمک حرام وهٔ په بند مې بندې کړ او دې تا په وکالت و کارخانې ته د سلطنت چې له لاسه لاړه وه رواج او زينت ورکوم. او دې تا نوم په خطبه کښې ثابت او روښن دے سلطان علاو الدين په خواب کښې د عرضداشت وکښل چې هرگاه پلار دې ما تهٔ په نام د فرزند نومړے، زهٔ تا په ځاے د مشر ورور شمارم او سلطنت مې و تاته پرېښهٔ او په پرگنه د بداؤن مې قناعت وکړ. سلطنت د دهلي په تا مبارک شه. ملک بهلول له دې زيرې ډېر خورم او خوشحال شهٔ. او په ملک گيرى ئې همت وگمارهٔ او هغه پرگنې چې په گردونواح د دهلي واقع وې له غيره زيره خلقه ئې خالي او په خپلو دولت خواهانو ئې حواله کړے او په اول کال د سلطنت ئې کوچ په سرانجام د ملتان د صوبې وفرمايهٔ. بعضې امراگان د سلطان علاو الدين چې په سلطنت د لوديو راضي نهٔ وو سلطان محمود شرقي ته ئې حقيقت وکيښ او دے ئې طلب کړ سلطان محمود په موجب د دوې د کښلو او في الجمله چې نسبت د خويښى ئې له سلطان علاوالدين سره درلهٔ، په سن اتصو شپږ پنځوس د جونپور نه له عظيمه (١) لښکره راروان شهٔ. او خواجه بازيد (٢) خوے د سلطان بهلول ئې په کوټ کښې د دهلي قلابند کړ سلطان بهلول په اوريدلو د دې خبرې له ديبالپوره مراجعت وفرمايهٔ. کوچ په کوچ په موضع د نريله چې پينځلس کروهه له دهلي پسته ده راغے (٣) او ديره ئې ونيوله. هر څو ئې پښته د صلحې په ميان راوړه اما سلطان محمود له نخوته او تکبره چې ئې درلهٔ قبوله ئې نهٔ کړه او فتح خان هروي ئې له ديرشو زرو سورو او له اتهٔ ديرشو مستو هاتيانو په سر د سلطان بهلول (٤) تعين کړ پس له مقابلې عظيم جنگ واقع شهٔ او يوهٔ هاتي له فوځ د شرقيانو ډېر خلق ضائع کړهٔ. او وړاندينے فوځ ئې د سلطان بهلول برهم درهم او گډ وډ کړ. په دا ميان کښې قطب خان لودي چې په تير اندازى يګانه د خپل وخت وهٔ په يوهٔ گزار ئې هاتي په غشي له کاره ويوست. او دريا خان لودي چې له سلطان محمود سره مل شوے وهٔ او جنگ ئې په ډېر تالاش او تردد کاوهٔ قطب خان ورته پيغام واستوهٔ چې خويندې او لونه دې په کوټ د دهلي قلعه بند دي. تا ته څهٔ ښائي چې له طرفه د بيگانه په جنگ دې مونږ باعث شوے او پاس د خپل ننگ او ناموس نهٔ اختياروے. دريا خان ووې چې زهٔ جنگ ترکوم، اما په دا شرط چې تاسې په پے دې ما روان نهٔ شې. قطب خان په دا باب قسم ياد کړ په مجرد د دريا خان د جاروتللو ماتې په لښکر د فتح خان کهه شوه. او په لاس د پښتنو کښيوت. سلطان محمود له اوريدو د دې خبرې تاب نې د برابرې را نهٔ وړ وجارووت او جونپور ته لاړ شهٔ. او سلطان بهلول ډېر قوت او استقلال بيامونده او په مهم گيرى متوجه شهٔ. اول و ميوات ته لاړ. احمد خان ميواتي ئې

اطاعت قبول کړ. ( ) سلطان بهلول اووهٔ پرګنې له هغو پرګنو په خپل تصرف (کړے) او باقي ئې ورته پريښوے. [۵۲] او مبارک خان ترهٔ د احمد خان ميواتي ئې په رکاب کښې روان کړ. (۱) نور له هغه ځايه و قصبې ته د برن (۲) راغے او دريا خان لودي چې حاکم د سنبل وهٔ هم ئې اطاعت و فرمان برداري د سلطان اختيار کړه او ملازمت ئې وکړ سلطان بهلول له دهٔ هم پرګنې واخستې او له هغه ځايه ئې و پرګنې ته د کول تشريف وفرمايهٔ. په دستور سابق ئې پرګنه د کول و عيسي خان ته عنايت کړه. هرګاه چې و برهان آباد ته راغے مبارک خان حاکم د سکيته (۳) ئې په ملازمت مشرف شهٔ. محال ئې د دهٔ د جاګير مسلم پريښ. او رائے پرتاب اوغيره زميندارانو د هغه نواحي په قلعه د بهوګاون شرف د ملازمت حاصل کړ حکومت ئې د بهوګاون په دهٔ مقرر کړ بيا ئې له هغه ځاے و کوټ ته د ريپري کوچ وفرمايهٔ. قطب خان خورے د حسين خان چې حاکم د ريپري وهٔ ګردن پيچي ئې اختيار کړه ځان ئې په کوټ کښې قلا بند کړ په لږ مدت په اقبال عدو مال کوټ فتح شهٔ. او قطب خان امان وغوښت په شرف د ملازمت مشرف شهٔ. محال ئې د دهٔ د جاګير هم مقرر او مسلم پريښ. له هغه ځايه په پرګنې د اټاوې راغے حاکم د اټاوې هم اطاعت اختيار کړ په دا ميان کښې سلطان محمود شرقي په فرموده د خپل حرم محترم چې له سلطان علاوالدين سره ئې نسبت د خوينبي درلهٔ په مقابله د سلطان بهلول و اټاوې ته راغے او هم په اول ورځ د طرفينو فوځونه په جنګ قائم او مستعد شول. بله ورځ قطب خان او رائے پرتاب و مينځ ته راغلل او دا شرط ئې برپا کړ چې هر چې ملک په تصرف دې مبارک شاه وهٔ هغه دې په تصرف د ملک بهول او هغه چې په تصرف د سلطان محمود جونپوري وهٔ هغه دې په سلطان محمود مقرر او مفوض شي او اووهٔ هاتيان چې له جنګ د فتح خان په لاس د سلطان بهلول کښيوتلي وو بيا دې ئې سلطان محمود شرقي ته ورکا. او شمس آباد دې جونا (۴) خان ګماشته د سلطان محمود و ګماشته ته د سلطان بهلول وسپاري. پس له صلحې سلطان محمود جونپور ته روان شهٔ. او سلطان په موجب د مقررې وعدې فرمان په طرف د جونا خان واستوهٔ چې له شمس آباده پاخه او حواله ئې د رائے کرن کړه. جونا خان په فرمان عمل ونهٔ کړ. سلطان بهلول خود و شمس آباد ته روان شهٔ. قلعه د شمس آباد ئې له جونا خانه راونيوه او رائے کرن ته ئې عطا کړه جونا خان دا حقيقت و سلطان محمود ته وکيښ. سلطان محمود قول اقرار مات کړ او په سلطان بهلول روان شهٔ. او په شمس آباد يوهٔ د بله مقابله شول. قطب خان او دريا خان چې دواړه لودي وو په لښکر ئې د سلطان محمود شب خون وکړ. ناګاه اس د قطب خان سُم وواهه او له اسه پريوت او دستګير شهٔ. سلطان محمود دې په قيد کړ او جونپور ته لې واستوه

اووۀ کاله په بند کښې پاتو شۀ. سلطان بهلول شاهزاده جلال خان او سکندر خان او عماد الملک په مقابلې د سلطان محمود د فوځ په مدد د رائے کرن چې په شمس آباد کښې قلعه بند وۀ پريښول. او خود متوجه په سر د سلطان محمود شۀ. په دا ميان کښې سلطان محمود رنځور[۵۳] شۀ. او په څو ورځو ئې رخت د ژوندون له دار فنا بار کړ بې بې راجې چې مور د دۀ وه، ډيره عاقله او دانا وه په اتفاق ئې د امراګانو شاهزاده بهيکن خان په تخت د سلطنت کښيناوۀ. او خطاب ئې د محمد شاه ورکړ ځنه لوے امراګان په ميان کښې راغلل او طرفين ئې صلح د دواړو بادشاهانو وغوښته. او قول او اقرار ئې وکړ چې ولايت د سلطان محمود دې په تصرف د محمد شاه وي. او هغه چې په تصرف د سلطان علاوالدين وۀ هغه دې الکه د سلطان بهلول شي. پس له ډيره قرارداده محمد شاه و جونپور ته کوچ او سلطان بهلول و دهلې ته وفرمايۀ. هرګاه چې نزدې و دهلي ته ورغے شمس خاتونې خور د قطب خان چې ارتينه د سلطان بهلول وه سلطان ته ئې پيغام واستوۀ چې څو قطب خان له قيده خلاص نۀ کړے هومره خوب او خوراک په سلطان حرام دے او زۀ به خپل خان پخپله مړ کړم. دې خواب (۱) په سلطان ډير تاثير وکړ. نور ئې معاودت له نواحې د دهلې وکړ او په قصد د محمد شاه روان شۀ. محمد شاه په مجرد د دې خبرې د اوريدو په ډير تلوار له جونپوره ووت او په مقابله د سلطان بهلول متوجه شۀ. هرګاه چې په شمس آباد ورسيد دا محال ئې له رائے کرن چې د سلطان بهلول ګماشته وۀ راونيو او جونا خان ته ئې ورکړ رائے پرتاب اګر چې پخوا مل د سلطان بهلول وۀ اما دا خل له غلبې د محمد شاه ترسان او هراسان شۀ. نور پيوسته له محمد شاه شۀ او محمد شاه کوچ په کوچ و سرسې (۲) ته راغے او سلطان بهلول په پرګنې د ريپرې چې نزدې سرسې ته وه نزول وفرمايۀ. څو ورځې پے در پے په ميان د دواړو لښکرو جنګ واقع شۀ. محمد شاه فرمان کوتوال ته د جونپور وکيښ چې ورور مې حسن خان(۳) او قطب خان (۳ الف) (لودي) چې په قيد دې بانده دي چې په قتل ورسې. کوتوال عرضداشت وکيښ چې بې بې راجې محافظت او خصمانه د دې دواړو کا او په خون د دوې هرګز حکم نۀ کوي. او زۀ په قتل د دوې دسترس نۀ لرم. هرګاه چې محمد شاه په دې مضمون واقف شۀ له مخه د مکر او د حيلې و خپلې بې بې راجې نيا ته خط وکيښ چې تاسو دلته تشريف وفرمايئ. په ميان دې ما او د حسن خان صلح او آشتې پيدا او حکومت د څو پرګنو په حسن خان مقرر کړه. بې بې راجې په کښل د محمد شاه له جونپوره روانه شوه. په دا ميان کښې کوتوال فرصت او قابو بياموند. په موجب د حکم ئې شهزاده حسن خان مړ کړ. دا خبر په قنوج کښې و بې بې راجې ته ورسيدۀ. څو ورځې بې بې راجې تعزيتِ او ماتم د حسن خان په قنوج کښې وکړ نور

د جونپور نه روانه شوه. هرکاه چې خبر د بي بي راجي د جاروتو و محمد شاه ته ورغے ورته نې وکښل چې په مرګ د يوۀ تن هومره شيون او ماتم مکړه زۀ به واړه شاهزادګان په يوۀ ځل مړۀ کړم. تعزيت او ماتم دې واړو په يوۀ ځل وکړه. الحق محمد شاه طبيعت سبعي درلۀ. هميشه به امرا وزرا له دۀ په ترس او په هراس[۵۴] وو چې ډير خوني او قتال وۀ. يوه ورځ حسين خان چې کشر ورور د محمد شاه وۀ په اتفاق نې د سلطان شاه او جلال خان اجودني(۱) په عرض د محمد شاه ورسول چې لښکر د سلطان بهلول تعبيه او داعيه کړې ده ديرش زره سوارۀ له ديرشو مستو هاتيانو له لښکره د سلطان بهلول جدا شوي په غاړه د جهونه منتظر د کار ولاړ دي. محمد شاه(۲) چې دا خبر واوريد لوے فوځ نې د حسين خان او د جلال خان سره په سر د لښکر تعين کړ (۳) حسين خان همرهي د جلال چې ورور د دۀ وۀ وغوښته. څوک نې په طلب د دۀ روان کړ. په دا ميان کښې سلطان شاه ووې چې توقف مصلحت نۀ دے جلال خان به دې تا په پے ورسي. دا نې ووې په مقابلې د سلطان بهلول د فوځ روان شول. اتفاقاً شهزاده جلال خان چې ورپسې په ډير تعجيل روان وۀ فوځ نې د سلطان بهلول فوځ نې د حسين خان وګانۀ. نزدې ورغے سپاه د سلطان بهلول ونيو او سلطان بهلول ته نې راوست. سلطان بهلول دے عوض د قطب خان وشمارۀ په قيد نې کړ هرګه چې حسين خان خبر د جلال خان د قيد واوريدۀ له ډيره ترسه د محمد شاه هم له هغه ځايه جاروت او جونپور ته لاړ. محمد شاه له قيده د جلال خان او له تيښتې د حسين خان ډير متردد او متوهم شۀ. چې خلل به په ملک د جونپور ګډ کا. نور نې تاب د سلطان بهلول د مقابلې رانۀ وړ په طرف د قنوج (۳) نې کوچ وکړ سلطان بهلول تر سينده د ګنګا ورپسې لاړ شۀ. جزوي مال و اسباب اس او هاتيان نې په لاس راغلل. بيا و دهلي ته وجاروت او حسين خان (۴) شاهزاده و جونپور ته راغے بي بي راجي چې په مرګ د حسن خان له محمد شاه نه اړه خاطر وه په اتفاق د امراګانو په سن د اتصو اووۀ پنځوس حسين خان نې په تخت کښينوۀ او په سلطان حسين(۵) نې مخاطب کړ او ملک مبارک (۶) او ملک علي ګجراتي او نور امراګانان نې په سر د محمد شاه چې په کناره د پرګنو د ګنګ راغلے وۀ تعين کړ. هرګه چې لښکر د سلطان حسين نزدې ورغے اکثر امراګان چې له قهره د محمد شاه په خوف و په ويره وو له لښکره د محمد شاه وتښتيدل و لښکر ته د سلطان حسين راغلل. محمد شاه په شماره له څو تنو په تيښته و يوۀ باغ ته چې په هغه نواحي کښې وۀ ورغے. لښکر د سلطان حسين هغه باغ محاصره کړ. هرګاه چې محمد شاه په تير اندازی کښې قادر انداز نې که خطا وۀ لاس نې په غشي په ليندۀ کړ. پخوا تر دۀ بي بي راجي سلاحدار د محمد شاه

دلاسه کړے وۀ توبرې ئې د ترکش واړه له غشو يستلي وو. په دا وخت کښې هر غشے چې
به محمد شاه له ترکشه دپاره د گزار وکيښ بې توبرې به ئې په لاس راغے لاچار شۀ لاس ئې
له ليندې وکيښ. او منگل ئې په قبضه د تورې ښخه کړه. ځو ځو تنه ئې مړۀ کړۀ ناگاه غشے
قضا په حلق د محمد شاه برابر شۀ له تخته د اس په تختې د زمکې پريوت او په مرتبې
شهادت ورسيدۀ. بيت

مادر گيتی نه دارد زاده اے کورانه کشت

دل منه بر مهر اين زال پسر کش زنهار

[۵۵] پس له دې واقعې الله تعالیٰ سلطان حسين بادشاه په استقلال کړ او سلطان حسين
سلطان بهلول سره صلحه و مصالحه وکړه او په دا ئې وعده وکړه چې څلور کاله دې هر يو
خپل ملک قانع اوسي. پس له هغه سلطان حسين قطب خان لودي ته هاتي او اس او مرص
توره ورکړه او په ډير اعزاز او اکرام ئې سلطان بهلول ته واستوۀ. او سلطان بهلول هم
شاهزاده جلال خان په تعظيم او تکريم معزز او مکرم کړ او په خدمت ئې د سلطان حسين
روان کړ. پس له څو ورځو سلطان بهلول په طرف د شمس آباد عزيمت وفرمايۀ او هغه محا
ئې له لاسه د جونا خان خلاص او رائے کرن ته ئې عنايت کړ او نښان او نغاره چې له در
خانه ئې په زور اخستې وه رائے برسنگهـ(۱) ديو ته ئې چې خوږے د رائے پرتاب وۀ مرحم
کړه. دريا خان په دا ميان کښې فرصت بياموند په مصلحت د قطب خان برسنگهـ ئې په قتل
ورساوۀ او قطب خان د (۲) حسين خان له مبارز خانه او رائے پرتاب سره ئې اتفاق وکړ او
سلطان شرقي سره موافق شول. (۳) سلطان بهلول ته قوت او مقاومت پاتو نۀ شۀ. وجاروو
او دهلي ته راغے پس له څو ورځو ئې په واسطه د دفعې د فتنې په لور د ملتان کوچ وفرمايۀ.
قطب خان لودي او خان جهان ئې په خپل نيابت په دهلي کښې پريښول. او لاهور ته رسيد
نۀ وۀ چې خبر د حسين خان د راتلو په تسخير د دهلي ور ورسيد. سلطان بهلول په مجرد
دې خبر بيا په تمام سرعت او تعجيل و دهلي ته مراجعت وفرمايۀ. او په مقابله د سلطا
حسين په چنداور کښې مقابل(۴) شۀ. اووۀ ورځې په ميان د دواړو لښکرو جنگ قائم و
پس له هغه چې وهل او لوټل او جدال او قتال مدت وځکاوۀ په سعي او په کوشش داعيانو
مملکت او امراکانانو طرفينو صلحه وغوښته. چې درې کاله دې دواړه بادشاهان په خپل خ
ولايت صابر او قانع وي. پس له صلحې سلطان بهلول و دهلي ته متوجه شۀ. او په سر انجام
ملک او د لښکر مشغول شۀ. اول په سر د احمد خان ميواتي ورغے چې دۀ په واقعه کښې
سلطان حسين سره موافقت کړے وۀ. هرگاه چې و ميوات ته ورسيد خان خانان چې لوے ام

د سلطان بهلول وۀ احمد خان ئې دلاسه کړ او په خدمت ئې د سلطان بهلول مشرف کړ په دا مان کښې احمد خان خوې د يوسف خان جلواني چې حاکم د بيانې وۀ له سلطان بهلوله ئې مخالفت اختيار کړ او خطبه ئې په نام د سلطان حسين په بيانه کښې ولوسته. او دا معني ئې و سلطان حسين ته معروض کړ هرګاه چې مدت د وعدې د صلحې په اخر رسيدلے وۀ. سلطان حسين له يو لک سورو او له زرو هاتيانو سره متوجه په دهلي شۀ. سلطان بهلول هم له دهلي ورووت په نـزدې د قصبې بهتواره يو د بله مقابله شول. اما خان جهان و مينخ ته راغے دواړه لوريه ئې صلحه وغوښته. پس له صلحې سلطان حسين و [٥٦] اټاوې ته لاړ او هورته ئې استقامت ونيو او سلطان بهلول بيا کوچ و دهلي ته وفرمايۀ. پس له څو ورځو سلطان حسين قول او عهد مات، بيا ئې قصد د سلطان وکړ او سلطان هم له دهلي مخې ته ور ووت. او په نـزدې د سرائے شکر (١) په ميان د دواړو لښکرو مقاتله او مجادله او جنګ جدل برپا شۀ. ليکن آخر الامر ئې صلح غوره کړه. په دا ورځو نيا (٢) د سلطان حسين چې بې بې راجې وه وفات بياموند. کليانمل خوے د رائے کرن چې راجا د ګواليار وۀ قطب خان لودي له چندواره و ګواليار ته ورغے دواړه په تعزيت و سلطان حسين ته ورغلل هرګاه چې قطب خان سلطان حسين له سلطان بهلوله په مقام د عداوت و نفاق او د پرخاش وليد له مخه ئې د خوشامدې ووې چې سلطان بهلول دې تا له جمله ؤ نوکرانو دے او دۀ ته دم د مساوات او د برابرى نه رسي. او زۀ څو دهلے دې تا په تصرف را نه وړم قرار اختيار کړونے نه يم. او په لطائف الحيل او په کمال حرفت ئې له سلطان حسين رخصت حاصل کړ او په خدمت د سلطان بهلول مشرف شۀ او وې ويل چې په ډيره حيله او په ډير تدبير له لاسه د سلطان حسين خلاص شوم اودے مې په حق دې تا په کمال بغض او نهايت مخاصمت او دښمنی بياموند. تاسو ته خپل فکر بانده دے په دا ميان کښې سلطان علاوالدين په قصبه کښې د بداؤن مستعار د صورت پهرحمت د حق وسپارۀ. (٣) او سلطان حسين په تعزيت له اټاوې و بداؤن ته لاړ شۀ او بداؤن ئې له زامنو د سلطان علاوالدين راونيو او خود متصرف شۀ. او دا بې مروتي ئې په خان وکړه. اوله هغه خايه په طرف د سنبل روان شۀ. مبارک خان خوے د تاتار خان چې حاکم د سنبل وۀ پهقيد ئې کړ. سارن (٤) تـه ئـې واستوۀ. او خود په تسخير د دهلي متوجه شۀ. په سن د اتصو دړې اتيا ذوالحجه په کناره (٥) د آب جون په ګودر د کجه (٦) ئې نزول وفرمايۀ. او سلطان بهلول په لور د سرهند وۀ. له اوريدو د دې خبرې و دهلي ته راغے ښۀ مدت د طرفينو اور د جنګ جدل بل وۀ. سپاه شرقيه له مخه د ابهت او د کثرت غلبه راوړه. اما بيا قطب خان و مينځ ته راغے. قراردار ئې د صلحې بنياد کړ او سرحد د دواړو بادشاهانو غاړه د آب ګنګ

شوه. سلطان حسين په اعتمار د صلح لته پته او اسباب ئې پريښ او په سرعت تمام ئې په جانب د جونپور كوچ وفرمايۀ. سلطان بهلول فرصت او قابو بيامونده وروپسې روان شۀ. اسباب او لښكر ئې د سلطان حسين لوټ كړ جزوي خزانه او نور هاتيان، اوښان او اسونه او غيره اشياء په لاس د سلطان بهلول راغلل. او قتلغ خان چې وزير اعظم او اعلم العلماء (٧) وۀ او هوده دار او نائب(٨) او څو امراګان نور دستګير شول. او ارتينه د سلطان چې نوم ئې نورجهان (٩) او خاصه حرم د دۀ وۀ په بند كښيوته. او سلطان حسين پياده تر آب ګنګ پورې شۀ او مخ ئې په تيښته[٥٧] ونيو او سلطان بهلول قتلغ خان په قيد كړ او د دهلي ته ئې واستوۀ. او ملكه جهان ئې د خواجه سرايانو او په خپلو معتمدانو وسپارله او په ډېر محافظت او په تمام عزت ئې و سلطان حسين ته واستوله او خود وروپسې روان شۀ. بعضې پرګنې ئې د سلطان حسين ضبطې كړے او حكام او عاملان ئې خپل پرې تعين كړۀ. او خود وروپسې متوجه شۀ. اخر الامر صلح ئې مقرره شوه چې تر هغه ځايه چې سلطان بهلول راغلے دے په تصرف دې د سلطان بهلول وي او باقي ملک دې په تعلق د سلطان حسين وي. په دې قول او قرار هر يو بادشاه و خپل ولايت ته مراجعت وفرمايۀ. سلطان حسين بيا په بل كال په ونيل د ملكه جهان (١) قول مات كړ او له ډېر جمعيته په جنګ د سلطان بهلول راروان شۀ. او په نواحي د موضع سونهار (٢) عظيم جنګ واقع شۀ. او سلطان حسين بيا شكست بيامونده، او ريپري ته لاړ سلطان بهلول دهوپا مؤته ته لاړ (١٢) او مال او اموال ډېر په لاس د لوديو كښيوت. په دا ميان كښې خبر د مرګ د خان جهان لودي ور ورسيد. سلطان بهلول خوے د خان جهان په خطاب د خان جهان ممتاز او په ځاے د پلار مقرر كړۀ. نور له هغه و ريپري ته په مقابلې د سلطان حسين روان شۀ. هورته بيا لوے جنګ واقع شۀ. بيا سلطان حسين مات شۀ له آب جونه پورې شۀ او مخ ئې په تيښته ونيو او په وخت د پورې كيدو ناموس او فرزندان د سلطان حسين په درياب د فنا غرق شول. په دا واقعه سلطان حسين ډېر غمګين او متالم شۀ. القصه پس له شكسته په لور د ګواليار روان شۀ چې په هغه لاره و جونپور ته لاړ شي. بهدوريه عالمو ئې په لښكر تالان ګړ كړ (٢ب) هرګاه چې ګواليرته ورسيد رائے كرن سنګهه راجا د ګوالير ئې اطاعت اختيار او خادمانه سلوک ئې د وړاندې كړ څو لكه نقدې تنګې او خيمې او تنبوان او هاتيان اوښان او اسونه په طريق د پيشكش ئې تر نظره تير كړۀ او يو له دولت خواهانو شۀ. او فوخ ئې له خپله ګروهه په خدمت د سلطان حسين روان كړ څو ئې و كالپي (٣) ته ورساوۀ. په دا ميان كښې سلطان بهلول په قصد د اټاوې كوچ وفرمايۀ. ابراهيم خان ورور د سلطان حسين او هيبت خان چې په ګرګ انداز مشهور او معروف وۀ كوټ د

اټاوې ونيو. (۴) درې ورځې ئې جنګ وکړ. پس له هغه ئې امان وغوښت او کوټ د اټاوې ئې به وکيلانو د سلطان بهلول وسپارۀ. سلطان بهلول اټاوه و ابراهيم خان لوحاني ته عنايت کړه‌او خو پرګنې ئې له ملکه د اټاوې مواجب و رائے داندو(۵) ته مرحمت کړے له هغه ځايه ئې لښکر جوړ کړ په سر د سلطان حسين و جونپور ته روان شۀ. په موضع د رائے کانو (۶) توابع د کالپې مقابل شول. څو ورځې طرفين جنګ وشۀ. اما اوبۀ د جون په ميان کښې وے(۷) په دا ميان کښې رائے تلوک چند چې حاکم د ولايت بکسر (۸) وۀ په ملازمت د سلطان بهلول راغے. لښکر ئې په پاياب تر اوبو پورې کړ او په سپاه ئې د سلطان حسين وروست. سلطان حسين تاب [۵۸] د مقاومت را نۀ وړ بهته (۱) ته روان شۀ. راجا د بهته ئې استبال وکړ څو لکه تنکې او سل اسونه او څو هاتيان ئې تر نظر تير کړۀ او فوځ ئې تر جوپوره ورسره کړ او سلطان بهلول په ډير جمعيت په تسخير د جونپور متوجه شۀ. هرګاه چې نزدې و جونپور ته ورغے سلطان حسين تاب را نۀ وړ په طرف د بهرانچ روان شۀ. په کناه د آب رهب(۳) سلطان بهلول هم ورو رسيد هورته عظيم جنګ واقع شۀ. پس له جنګه چې شکست جبلي او طبيعي د سلطان حسين وۀ. په ظهور راغے واړه اسباب د سلطنت په لاس د سلطان بهلول کښيوت او لښکر د سلطان بهلول له دې لوټه ډير آسوده حال شۀ. سلطان بهلول مبارک شاه په حکومت د جونپور سرفراز کړ او قطب خان او خان جهان ئې له څو مراګانو سره په قصبه د منجهولي (۴) پريښول. او خود په طرف د بداؤن متوجه شۀ. په دا مين کښې سلطان حسين لږ ډير استعداد پيدا کړ لښکر ئې په لور د جونپور راروان کړ اماګانو د سلطان بهلول جونپور پريښ په منجهولي کښې له قطب خان سره پيوست شول. سللان بهلول باربک(۵) شاه شاهزاده په مدد د قطب خان لودي تعين کړ او خود هم ورپسې کوچ په کوچ روان شۀ. سلطان حسين تاب را نۀ وړ. و بهار ته روان شۀ. په دا مينځ کښې چې سطان بهلول هلدي قصبې ته ورسيد خبر د مرګ د قطب خان لودي(۶) خوے د اسلام خان چې ترۀ د سلطان بهلول وۀ وروورسيد. څو ورځې په تعزيت مشغول شۀ. پس له هغه و جونپور تلاړ شۀ او جونپور ئې و شاهزاده باربک شاه ته مرحمت کړ او په تخت ئې کښيناوۀ. او خ د ئې عزيمت و ولايت ته د کالپې وفرمايۀ. او کالپې ئې و اعظم همايون خوي د شهزاده خواجه بايزيد(۷) ته ورکړه. نور په لار د چندوار و دهولپور ته روان شۀ. رائے د دهولپور ئې په اسقبال راغے او څو منه سرۀ زر ئې ورته پيشکش کړۀ او داخل په دولت خواهانو شۀ. القصه سطان بهلول له هغه ځايه کوچ وکړ او پرګنې د باري (۸) ته راغے اقبال خان حاکم د باري اطعت او خدمت په ځاے راوړ او حلقې کښې د ملازمان درګاه شۀ. او څو منه زر ئې ورته

عرض کړه. سلطان بهلول پرګنه د باري په جاګیر کښې د دهٔ مقرر کړه. له هغه ځایه ئې په لور د الاپور(۹) چې له توابع د رنتهمبور (۱۹) دے نهضت او کوچ وفرمایهٔ. ولایت ئې د رنتهمبور تاخت او تاراج کړ او باغ او باغات او زراعت ئې د هغه ملک تمام خراب کړو دهلي ته راغے او قرار ئې ونیوهٔ. څهٔ مدت ئې هلته روزګار په عیش او په عشرت تر سره یووړ پس له هغه په ګوالیر متوجه شهٔ راجه مان حاکم د ګوالیر انقیاد اختیار کړ او اتیا لکه ټنګې ئې ورته پیشکش کړے سلطان بهلول تسخیر د ګوالیر موقوف پریښ او اټاوې ته راغے رائے سکت سنګهه(۱۰) خوے د رائے داندو (۱۱) ئې له اټاوې تغیر کړهٔ. اټاوه ئې داخل خالصه شریفه کړه. نور ئې مراجعت وفرمایهٔ او دهلي ته راغے (۱۲) لا په لارې وهٔ چې بیماري د حرارت ورته عارضه شوه په نزدې د قصبهٔ ملا ولي (۱۳) چې د سکیت له توابعو ده(۱۴) له دې دار فاني و جناب جاوداني ته ئې رحلت وفرمایهٔ. رباعي.

دا جام چې چا څیښې هسې لا څیښې شي مستان ئې خوب کا کله به ویښ شي

حال ئې و هیچا وته معلوم نهٔ دے[۵۹] آه ئې له دله هر دم وکیښ شي

(د سلطنت موده ئې اتهٔ دیرش کاله اتهٔ میاشتې اتهٔ ورځې وه)(۱) او چا له فاضلانو د هغه وخت دا بیت ئې په تاریخ د وفات ونیلے دے بیت:

به هشت صد و نود و چار رفت از عالم خدیو ملک ستان و جهان کشا بهلول

فصل دویم په احوال د سلطان سکندر لودي. هرګاه چې سلطان بهلول دا عالم فاني پریښ باربک شاه چې مشر خوے د سلطان بهلول وهٔ په جونپور کښې وهٔ او نظام خان چې کشر خوے د سلطان بهلول او له نسه د بي بي ایمنې وهٔ په دهلي کښې په تحصیل او په کمال یعنې په تعلیم د علم مشغول وهٔ. بي بي ایمنې خبر د سلطان بهلول مخفي وساتهٔ او نظام خان شاهزاده ته ئې چې خوے د دې وهٔ خبر د دې واقعې په لاس د قاصد واستوهٔ چې کهٔ په دا واقعه کښې زر راورسے بادشاهي دې تا ده ګنه باربک شاه خود بادشاه دے او واړه امراګان د سلطان بهلول له دهٔ سره متفق دي. او دې له موره د پښتنې دے او قوت او غلبه ډیره لري. نظام خان په مجرد د اوریدو د دې خبر بلا توقف په ډیر تلوار خپل خان په قصبې د جلالي چې لښکر د سلطان بهلول په دا قصبه کښې وهٔ ورساوهٔ. او تابوت ئې د سلطان بهلول و دهلي ته روان کړ هرګاه چې خان جهان او خان خانان فرملي او نورو امراګانو فکر وکړ چې باربک شاه له دې خلقه ډیر بعد او مسافت په میان لري. په ورځ د جمعې او اوولسم (۲)د شعبان المعظم په سن د اتصو څلور نوي نزدې و قصبې ته د جلالي پاس په بلندی چې هغه ځاے ته کوشک فیروز شاه وائي جلوس ئې و نظام شاه ته په تخت د بادشاهي ارزاني کړ او په خطاب

سړد سلطان سکندر مخاطب کړ .(۲) (دغه وخت ئې شپږ خامن وو ورمبے ابراهیم خان دوم جلال خان دریم اسماعیل خان څلورم حسن خان پنځم محمود خان او شپږم شیخ اعظم خن همایون) (۳) پس له هغه ئې اعلي جشن وفرمایهٔ. په دا جشن کښې دري پنځوس تنه ماګان په اس او په سرو پایونو (۴) او په لویو منصبونو سربلند او سرفراز کړهٔ. (۵) او سیر حصل جاګیرونه ئې ورعنایت کړهٔ او په لږ مدت ئې اواز د عدل او د داد او د امن و امان په غو د خلائق ورسید او کارخانه کښې د سلطنت سر د سره بیا خوبي او تازګي پیدا شوه. پس لغو ورخو چې استقامت او استقلال ئې ونیو، په واسطه د ضبط ممالک او سررشته د بنوبست ئې توجه وفرمائیله. اول ئې په طرف د پرګنې د ریپري عزیمت وفرمایهٔ. عالم خان ورر د سکندر خان څو ورځي په کوټ کښې متحصن شهٔ. آخر ئې فرصت د تیښتې بیاموند ګیزان شهٔ. عیسي خان خوے د تاتار خان (۶) لودي ته و پتیالي ته لاړ شهٔ. سلطان سکندر پرګنه د ریپري و خان خانان لوحاني ته عنایت کړه او خود متوجه په اټاوه شهٔ. او برسات ئې په اټاوه کښې تیر کړ عالم خان چې ورور د دهٔ وهٔ په لاس ئې راوړ له اعظم خان همایونه ئی جدا کړ اټاوه ئې و اعظم خان ته عنایت کړه او هم له هغه خایه ئې اسماعیل خان لوحاني دپاره د صلح و باربک شاه ته واستوهٔ. او خود په سر د عیسي خان حاکم شمس آباد او د پتیالي چې سر ئې له اطاعته د بادشاه اخستے وهٔ متوجه شهٔ. عیسي خان جنګ وکړ اما بیا و ملازمت ته راغے لیکن زخمي وهٔ او اخر هم له هغه زخمه مړ شهٔ. په دا میان کښې رائے ګنش (۷) چې یو له امراګانو د باربک شاه وهٔ [۶۰] راغے او ملازمت ئې حاصل کړ سلطان سکندر پتیالي و دهٔ ته مرحمت کړه. په دا ورخو کښې اسماعیل خان لوحاني چې په صلح د باربک شاه لاړ وهٔ راغے او په عرض ئې ورسول چې باربک شاه په صلح راضي نهٔ دے او خیال د جنګ و جدل په سر لري. سلطان سکندر په استماع د دې خبر په مقابله د باربک شاه په طرف د جونپور عزیمت وفرمایهٔ. او باربک شاه ئې هم په مقابله راغے په نواحي د قوح دواړه وروڼه په جنګ مشغول شول او عظیم جنګ واقع شهٔ. او ډیر خوانان طرفین په رتبه: شهادت ورسیدل. اخر الامر باربک شاه شکست بیاموند او په لار د بداؤن روان شهٔ. سلطان سکندر ورپسې متوجه شهٔ. بداؤن ئې محاصره کړ پس له څو ورخو باربک شاه عاجز شهٔ ملازمت ئې د سلطان اختیار کړ او سلطان سکندر له کمو او له سترو تقصیرونو د دهٔ تیر

التفات او عنایت شاهانه ئې مسرور او مباهي کړ خپل ورور ئې له لاسه ونیو او جونپور ته ئې کوچ وفرمایهٔ. او په جونپور کښې باربک شاه په دستور سابق په امارت او حکومت ئې د جونپور سرفراز او ممتاز کړ او پرګنې د جونپور د نواحي ئې جاګیر د خپلو معتمدانو کړے

او پـه هـر ځاې داروغه او حاکم عليٰحده ئې پريښ. او په خدمت ئې د باربک شاه خپل معتبر امراګان پريښول چې بيا ئې فاسد خيال او ورانه انديښنه په خاطر تيره نشي. او سلطان سکندر لـه هـغه ځايه و کالپي ته راغے او اعظم همايون ځوے د خواجه بايزيد ئې له کالپي نه تغير کړهٔ او محمود خان لودي ته ئې عنايت کړهٔ او خود ئې په طرف د بکسر چهتره(١) کوچ وفرمايهٔ. حـاکم د هغه ځاے طريقه د بندګي او سرشته د دولت خواهي په تقديم راوړه. سلطان سکندر چهتـره و دهٔ تـه تفويض کړه. او خود په لور د ګواليږ متوجه شهٔ. او خواجه محمد فرملي ئې له اسـه او سروپايه په طريق د رسالت و راجه مان (٢) تـه چې راجا د ګواليږ وهٔ واستوهٔ. راجه مان هـم اطـاعت او انقياد قبول کړ او خپل ورارهٔ ئې له زرو سورو سره په خدمت د سلطان سکندر مقـرر او تـعيـن کـړ چـې هـميشـه دې سـر ګرم په خدمت د رکاب فتح مآب وي. نور سلطان سـکـنـدر لـه هغه بيانې ته روان شهٔ. سلطان اشرف ځوے د سلطان احمد جلواني لاړ د بندګي وړانـدې کـړه او شرف د ملازمت ئې حاصل کړ. سلطان سکندر وفرمائيل چې قلعه د بيانې تهٔ پـريږده چې په عوض ئې جليسر او چندوار او مارهره او سکيت (٣) بياموے. سلطان اشرف عـمـر خـان سـرواني لـه ځانه سره روان کړ او بيانې ته په سپارل د کنجيانو (٤) د قلعې راغے هـرګاه چې داخل په کوټ شهٔ ور ئې پورې او کوټ ئې ټينګ کړ په دا ميان سلطان په لور د اګرې چې له توابعو (٥) د بيـانـې وه په ښکار د ماهيو او په دفع د ګرمي په غاړه د درياب جون (٦) راغـلے وهٔ. هيبـت خـان جـلواني چې له تابعانو د سلطان اشرف وهٔ په قلعه کښې د اګرې متحصن شهٔ. سلطان خو تنه له امراګانو په سر د اګرې پريښول او خود بيا و بيانې (٧) ته روان شـهٔ. پـه قـلـعـه بندی ئې سعي او مبالغه وفرمائيله. هرګاه چې سلطان اشرف تنګ شهٔ امان ئې وغـوښـت او پـه مـلازمـت د سلطان سکندر راغے او کنجي او جندره ئې د کوټ و وکيلانو د سـرکـار وسپـارلې، پـه سـن د اتصو اووهٔ نوي کوټ د بيانې فتح شهٔ. سلطان دا محال په خان خـانـان فـرمـلـي وسپـارهٔ او خود په طرف د دهلي متوجه شهٔ او سلطان اشرف ئې [ا ٦] خارج کړ. او دا خـل نـې ځـلـويښـت ورځې په دهلي کښې مقام او توقف وکړ. نور خبر له جونپوره راورسيد چې زميداران د جونپور د نواحي خصوص بچګوتيا(١) قريب يو لک سوارهٔ او پياده جـمـع شـوي دي او مبـارک خـان چې حاکم د جونپور وهٔ له ځايه ئې هسک کړ او شير خان وررور د دهٔ پـه شهـادت مشـرف شـهٔ. او مبـارک خـان تر سنده د ګنګ په ګودر د جوسي(٢) پورې کيدهٔ په لاس د ملاحانو (٣) کښيوت. په دا ميان کښې رائے بهيد راجا د بهته (٤) واقف شهٔ. مبارک خان ئې ونيو په قيد ئې روان کړ او باربک شاه تاب د هغه قوم د غلبې رانهٔ وړ. له جونپوره و محمد خان فرملي ته چې په خطاب د کالا پهاړ مشهور وهٔ راغے. سلطان سکندر

بـه سن د اتصو انهٔ نوي په هغه طرف (۵) کوچ وفرمایهٔ. هرگاه چې په د لمؤ (۱۵) داخل شهٔ. بـربک شـاه لـه دوارو امـراګانو سره په شرف د ملازمت مشرف شهٔ. او رائے بهید له قهره د سطان اندیشه ناک شهٔ. مبارک خان لوحاني ئې په خدمت د سلطان روان کړ. سلطان له هغه خیه و کهکر (۲) ته راغے زمینداراانو یو د بله جمعیت او تقویت پیدا کړ او په مقابله د سلطان سکـنـدر راغـلـل عـظـیـم جـنـګ واقع شهٔ. آخر ئې شکست بیاموند. په هر طرف تار په تار و معرق شول. ډیر لوټ په لاس د اسلام کښیوت. نور له هغه ځایه سلطان سکندر بیا جونپور ته ران شـهٔ. دویـم ځـل ئې بیا باربک شاه په حکومت د جونپور پریښ او وجارووت او د قصبه اده خواؤ شا ئې یوه میاشت په سیر او ښکار تیره کړه چې کهکر ته ورسید خبر ورورسید (۷) چې باربک شاه له غلبې د زمینداراانو په جونپور کښې نهٔ توانیږي چې استقامت وکا. سلطان سکندر محمد خان فرملي او اعظم همایون او خان جهان او (خان خانان) (۸) لوحاني له لاړې داودې او مبـارک خان ئې په لار د کړے (۹) تـعیـن وفرمائیل چې باربـک شاه په قید کا او په حضـور ئـې روان کـا. امراګانو موافق د حسب الحکم باربـک شاه په قید کړ او حضور ته ئې ران کړ. هرګاه چې باربـک شاه حضور ته راغے حکم ئې وکړ چې حواله دې په عمر خان او هیبت خـان سـرواني شي او خود په لور د قلعې د چنار (۱۹) متـوجـه شهٔ چې بعضې امراګان د سلـطان د شرقي تنبیه کا نور وجاروزي هغه هم یو د بله جمع شول او عظیم جنګ واقع شهٔ. اما شـکـسـت ئـې بیـامـونـد او پـه کـوټ د چـنـار ننوتل. هرګاه چې کوټ نهایت استحکام او محکمې درله. سلطان سکندر په اخستل د هغه کوټ متوجه نهٔ شهٔ په طرف د کنتت (۱۰) چې له ضلعې د بهته (۱۱) وهٔ روان شـهٔ. رائـے بهیـد راجا د هغه ځاے استقبال وکړ او اطاعت ئې قـول کـړ. سـلـطـان سـکـنـدر کنتت په دهٔ مقرر کړ او جانب د اریل او د بیاک (۱۱) نهضت وفـرمـایـهٔ. په دا میان کښې رائے بهید له واهمې د طبعې واړه اسباب او خیمې پریښوے او بهته ته (۱۲) فـراري شهٔ. سلطان واړه مال او اسباب د دهٔ لوټ او تاراج کړه. او عمارتونه او باغونه ئې د هـغـه کـافـر نـعـمت او مبغوض شریعت خراب او پائمال کړ نور په لاړې د کړے (۱۳) و ځـمؤ په راغے. په دا ورځو منکوحه د شیر خان لوحاني ئې (۱۳) په عقد د خپل نکاح راوړه. پس له هغه ئې په طرف د شمس آباد (نیت وکړ) (۱۴) څو ورځې (۱۵) [۶۲] ئې هورته توقف وکـړ پـه لـور د سنبل متوجه شهٔ او له هغه ځایه بیا و شمس آباد ته راغے. په مینځ د لویې لاړې بد یو تاکل (۱) (کـلـے) ئـې چې مسکن او ماویٰ د متمردانو وهٔ خراب وجاړ کړ او اکثر فرقې ئې د باغیانو په قتل وسپارلے. و شمس آباد ته راغے او ورځې ئې د برسات هورته تیرې کړے بـه سن د انصو په ګوشمال د راجا بهید په طرف د بهته د ولایت ئې کوچ وفرمایهٔ. هرګاه چې

پـه کهان کهاتي (۲) ورسيـد بيرسنگهـ (۳) ديـو خـوږ د راجه بهيد هم راغـې او جنگ ئې برپا کړ اما هـزيـمـت او شکست ئې بيامونـد پـه طرف د بهتي وتښ لښکر د اسلام ورپسې روان شـۀ. لـه واقعې د بير سنگهـ ديو (۴) د ماتي راجا بهيد هم پـه لور د موضع سر کچه گريز وکړ الف) پـه ميـان د لارې بيـمار شـۀ خان ئې پـه ملائکو د دوزخ وسپارۀ. (۵) او سـلطان سـکندر تر پپهونده (۶) چې له عاملانو د قنوج (۷) وۀ لاړ شـۀ. هـغه ملک ئې واړه تاخت او تاراج کړ او هـورتـه تنگي او عسرت د غلې او د افيم او د ډوډۍ او د مالگې (۸) او د تيلو (۸) ډيره پيښنه شـوه او پـه سبـب د هوا د مخالفت اکثر اسونه د لښکر تلف شول. تر هسې حده چې کۀ د چا لـس اسونه وو يو ورته پاتو شـۀ. (۹) رائـې لکهمي چند خوږ د راجا بهيد او نورو زميـنداراتو و سـلطان حسين شرقي ته وکښل چې په لښکر کښې د سلطان سکندر اس پاتو نۀ شۀ براق واړه ومړل (۱۰) سـلطان حسين بې فکره جمعيت آماده کړ. (۱۱) او پـه مقابلې د سلطان سکندر له بهـاره راروان شۀ. سلطان سکندر پـه مجرد د دې خبر د اوريدو خان خانان (۱۲) و سـالباهن ته چې خوږ د راجا بهيد وۀ واستوۀ چې دلاسه ئې کا او سلطان ته ئې حاضر کا او خود پـه مقابلې د سـلـطـان حسيـن پـه گودر د کنتت پورې شۀ. چنار ته او له هغه ځايه و بنارس ته راغـې (۱۳) سلطان حسين هم پـه تمام تعجيل (۱۴) ورته راغـې سلطان سکندر فتح له پروردگاره وغوښته نـور نـې صـفـونه جوړ کړ او متوجه پـه جنگ شـۀ. او سالباهن هم بنۀ جمعيت سره حاضر شۀ سـلـطـان سـکـنـدر هـم پـه پسې متوجه شۀ. له هغه ځايه سلطان حسين و بهار ته لاړ شـۀ. سلطان سـکندر هم مخ پـه بهار ونيو سلطان حسين له اوريدو د دې خبر ملک کهندو پـه کوټ کښې د بهار (۱۵) پـريـښ او خود و کهلگاؤن (۱۵ الف) تـه چې لـه توابع د لکهنوتي (۱۵ ب) وۀ ورغـې سـلـطـان سکندر له منزله د ديو بارې فوځ پـه سر د ملک کهندو تعين کړ تاب د مقاومت ئې رانـۀ وړ مـخ ئې پـه تيښت ونيو او بهار پـه سن د انصو يو فتح شـۀ. سلطان سکندر محبت خان له ځـو امراگانو سره پـه بهار پريښ. او درويش پور (۱۶) تـه راغـې او خان جهان ئې سردار د دې ځـاې کړ او خود ئې پـه لور د ترهت دوړ وکړ (۱۷) راجـا د هغه ځاې استقلال رانۀ وړ اطاعت (۱۸) ئـې قبـول کـړ او شـرف د استـقـبـال ئـې حـاصـل کړ او ځو لکه تنکې نعلبندي پـه طريق د پيشکش ئې پـه خان کيښوې. سـلطان سکندر مبارک خان پـه تحصيل د ديو زرو پريښ پـس لـه پـنـځـو ورځـو بيـا درويـش پـور ته راغـې پـه شپاړسم د شوال سن د انصو يو خان [۷۳] جهان لـودي وفـات بيامونـد. احمد چې خوږ د دۀ وۀ پـه خطاب د اعظم همايون ممتاز او سرفراز شۀ او پـه زيـارت د شيخ شرف الدين يحيیٰ منيري راغـې (۱) فـقيـران او محتاجان ئې د هغه درگاه سعادت انتباه پـه نذر پـه نياز خوشحال او خورم کړۀ. له هغه ځايه د بنگالې پـه مقابلې د سلطان

علاء الدين (۲) ئـې تـوجـه وفـرمائيله. هرګاه چې سلطان علاو الدين(۱۲) پـه سرحد د بنګالې خپل ځوی لـه ډيـره جمعيته تعين کړی وۀ. سلطان سکندر هم محمود خان لودي او مبارک خـان لـوحاني ور وړاندې کړۀ. په نواحي د قصبې د باره(۳) طـرفين مقابله شول. آخر الامر دا رنګ صلح صلاح وشوه چې په ملک د بهار دې سلطان علاو الدين دخل نۀ کا او مخالفانو ته دې: سـلطـان ځای نۀ ورکوي. او سلطان سکندر دې هم له دې ځايه وجاروو خې. او تصرف دې‌بـه ولايت د بنګالې نۀ کا. (۴) سـلـطان سکندر دا صلح قبوله کړه او وجارووت و درويش پـورتـه راغـی او پـه قـصبـه کښې د پـټـنې مبارک خان له فاني سرايه و باقي ښهر ته رحلت وفـرمايـۀ. ولايـت ئـې د بهار و دريا خان چې ځوی د مبارک خان وۀ مرحمت کړ. په دا کال کښې نرخ د غلې ګران شۀ. سلطان سکندر په سبب د جمعيت او رفاهيت د رعايا او نور خلق فـرمان په منع (۵) د زکـات پـه سـر د خـلائق صادر کړ پس له هغه ئې توجه و سارن ته چې له تـوبـع د بهار او په تصرف د زميندارانو د هغه ناحيت وۀ وفرمائيله. هغه محال ئې په جاګير و ښـنـو تـه ورکـړ او خـود په دولت او سعادت و جونپور ته راغـی او شپږ مياشتې په جونپور کښې پـاتو شۀ. پس له هغه ئې په لور د بهته (۷) کـوچ وفـرمايۀ او دا په واسطه وۀ چې سلطان سـکـنـدر لـه سالباهن لور غوښتې وه سالباهن دا قبول نۀ کړۀ. القصه هرګاه چې لښکر د اسلام هـورتـه پـه سـن ۹۰۴ ورسيـد تـاخت باخت ئې وکړ او اثر د ابادانی په هغه ملک پاتو نۀ شۀ.

هرګاه چې په قلعه د باندهو (۸) چـې زورروه قلعه د هغه ولايت وه ورسيدل مړدانه ځوانانو سعي او ـردونـه کـړۀ امـا کـار تـر سره نۀ شۀ. سلطان وجارووت و جونپور ته راغـی او ځو ورځې مـقام شۀ او په کاروبار د مملکت مشغول شۀ. مبارک خان چې صوبه د جونپور ځو کاله پـس له اربک شاه په دۀ حواله وه. په دا اثنا کښې حساب کتاب ئې د دې محال تر ميان راغـی کۀ هـ ځـو لطائف الحيل او آمد و شد مبارک خان په تقديم راوړۀ اما سود ئې ونۀ کړ اخر الامر حاصـل او مـحصول ئې د ځو کالونو ترې واخست او داخل ئې په بادشاهي خزانه کړ (۹) په همه شپو ورخو کښې (۱۰) يـوه ورځ پـه جـونپـور کښې سلطان په استعمال (۱۱۰) د چوګان مـشـغول شـۀ. پـه ميـان د چـوګـان وهل چوګان د سليمان ځوی د دريا خان (۱۱) سـرواني په چوګان د هيبت خان برابر شۀ په سر د سليمان (۱۲) ولـګيدۀ سر ئې په وينو شۀ. او دستار ئې لـ سـره جدا شۀ. له دې کاره ډير رنجش خاطر په ميان راغـی خضر خان چې ورور د سليمان و،په سبب د ورور د انتقام په قصد ئې د هيبت خان (۱۳) سر په چوګان، وواهۀ. ډير شور و شر و؟ړ شـۀ. هيبت خان(۱۴) مـحـمود خان او خان خانان دلاسه کړ (۱۵) او ديرې ته [۶۴] ئې رړان کړ. او سلطان و خپل محل ته روان شۀ. پس له ځلورو ورځو (۱) بيا اتفاق د چوګان

بازى بري ووت شمس خان چې له اقرباؤ د هيبت خان وۀ په څنګ ولاړ وۀ په چوګان ن
خضر خان چې وررور د سليمان وۀ په سر وواهۀ. سلطان وفرمائيل شمس خان (۲) ني په لتو ک
او خود پريشان خاطر و خپل محل ته ني تشريف وفرمايۀ. پس له هغۀ هغه امراګان چې
اعتمادي او خاصه د دۀ وو په څوکي او پهره ني تعين کړ په دا ميان کښې امراګان په مقام
غدر او مکر شول (۳) او دوه ويشت امراګانو (۴) يو د بله اتفاق وکړ او شهزاده فتح خان ني
په ترغيب په رغبت د سلطنت ولاړ کړ او قسم ني د قرآن په دا باب وکړ باعث په فتنه او ي
فساد شول. اخر الامر شهزاده فتح خان چې خوږے د بهلول وۀ ملاحظه او عاقبت انديشي پ
خاطر راوړه او خپلې مور او شيخ زاهد (۱۴) ته چې مرشد د دۀ او استاذ وۀ جماعه ني د بد
انديشانو او د فساد کړونيو ښکاره او هويدا کړه. شيخ زاهد او خپلې مور و شهزاده فتح خان
ته نصيحت وکړ ورته ني ووې چې يادداشت د اسامي د دې ګروه په نظر د سلطان بائده دي
چې تير کړے هاله به خپله لمن له ګرده د تهمت او له غباره د فساد پاکه کړے. الغرض
شهزاده دا حقيقت په خاص مجلس کښې په عرض د سلطان ورساوۀ. او سلطان په دا واق
مطلع او آګاه شۀ. نور ني په اتفاق د خير خواهانو په سبب د دفعې د فساد او د فتنې هر يو ني
له دې ګروهه په اطراف او جوانب اواره کړ خاطر عاطر ني له دې دغدغې (۵) او وسواس
خلاص (۶) کړ بيا په لور د سنبل په سن د انصو پنځۀ متوجه شۀ. هر ګاه چې هغه سرزمين
خواهان د طبع وۀ طبيعت (۸) د سلطان له هغه هوا ډير موافقت وکړ (۸ ا) او ښکار ني هم ډير
وۀ. (۸ ب) څلور کاله او څو ورځې هورته مشغول په عيش او په عشرت شۀ او په امور او
بندوبست سرګرم وۀ او اکثر اوقات به ني ښکار کاوۀ. فضيلت پناه شيخ جمالي کنبو چې ل
سفره د بحر او د بر راغلے وۀ او په دهلي کښې ني استقامت نيولے وۀ سلطان منظومه رقعه
ورته وکښه او دې ني طلب کړ. دوه کاله يو د بله صحبته مسرور او محظوظ وو او اکثر
اوقات به ني مقدمه د شعر په ميان درله. (۹) په دا ميان کښې خبر د بدعملي او د بدکارى د
اصغر چې حاکم د دهلي وۀ په درګاه د سلطان ورسيد. حکم والا په خواص خان حاکم د
ماچهي واړه (۱۰) صادر شۀ. چې اصغر ونيسه او حضور ته ني راروان کړه. اصغر دا خبر
واوريد پخوا تر ورتلو د خواص خان په ملازمت سراسر سعادت روان شۀ. (۱۲) حکم د
سلطان وشۀ په قيد ني کړ او طوق او زنځير ني په ګردن او په پښو ور واچول په زندان ني
کړ (۱۳) او خواص خان مطابق د حسب الحکم اسماعيل خان چې خوږے د دۀ وۀ په دهلي
کښې پريښ او خود په ملازمت د سلطان و سنبل ته راغے. په خلعت په نوازش سرفراز شۀ او
هم په دا ورخو کښې [۲۵] سعيد خان سرواني له لاهوره راغے او شرف د ملازمت ني حاصل

کړ. هرګاه چې دے هم له جمله فتنه انګيزو وۀ سلطان دے او تاتار خان او محمد شاه او نور بدخواهان د ملک او د دولت له خپله ملکه خارج کړۀ او په دا ورځو کښې راجا مان راجا د ګولير (۱) په لاس د نهال چې خواجه سرائے وۀ تحفې او هديې و سلطان ته عرض کړے. هرکاه چې نهال په خدمت او زمين بوس مشرف شۀ. سلطان له بعضو خوابونو سوال ترې وکړ. دۀ خوابونه نا ملائم ورته عرض کړۀ. سلطان له مخه د غضب نهال چې خواجه سرائے وۀ له خپلو راتلو او له اخستو د ګوالير د قلعه ډير سخت ورته ووې. په دا ميان خبر د خان خانان فرملي د فوت چې حاکم د بيانې وۀ ورسيد. سلطان وفرمائيل حکومت د بيانې په عماد او په سلمان چې فرزندان د خان خانان مرحوم وو مبارک کړ. هرګاه چې بيانه په واسطه د کوټ د محکمې ځاے د بغي او فساد وۀ عماد او سليمان له خپلو متعلقاتو سره نظر په بعضې ملاحظه و سنبل ته راغلل. سلطان راتلل د دوې چې بې وخته او بې بلل وو پسند نۀ کړۀ خواص خان نې په حکومت د بيانې ممتاز او سرفراز کړ او صفدر خان ته ئې حکومت د اګرې چې له توبعو د بيانې وۀ مرحمت او عنايت کړ او عماد او سليمان ته ئې شمس آباد (۲) او جليسر (۲) او منګلور (۳) او شاه آباد (۱۳) او نورې پرګنې عنايت کړ. او په عالم خان حاکم د ميات او په خان خانان لوحاني چې حاکم د ريپرې وۀ حکم اعلىٰ صادر شۀ. چې په اتفاق د خواص خان په تسخير د دهولپور د قلعې متوجه شي او دا محال دې له تصرفه د مانک ديو خلاص کا خوانين مذکور مطابق د حکم عالم مطاع جهان مطيع و دهولپور ته روان شول. او رائے مانک ديو مستعد د جنګ اوجدل شۀ او هره ورځ به طرفين ډير خوانان په قتل او په مرګ رسيدل. او خواجه بين چې له جمله بهادرانو وۀ په رتبه د شهادت مشرف شۀ. سلطان سکندر له اوريدو د دې واقعې په ورځ د جمعې شپږم د رمضان المبارک سن انصو شپږ وۀ په طرف د دهولپور متوجه شۀ. راجا مانک ديو له اوريدو د دې خبر خپل متعلقان او وابسته ئې په کوټ کښې د دهولپور متحصن کړۀ. او خود و کوټ ته د ګواليرلاړ شۀ. ګماشته ګانو د دۀ هم تاب د استقامت رانۀ وړ. په شپه ئې فرصت غنميت وشمارۀ له کوټه ووتل او په تيښته رون شول. او قلعه د دهولپور په لاس د اهل اسلام راغله. له هغې ورځې په دې کوټ کښې نوبت د بانګ د نمانځۀ بلند شۀ او سلطان سکندر يوه مياشت په دهولپور کښې توقف وکړ نور ئې کوچ و ګواليرته وفرمايۀ. راجا مان خپل وکيلان په ملازمت د سلطان واستوۀ. او خواهان د صلحې شۀ. او سعيد خان او بابو خان او رائے ګنيس چې له سلطانه تښتيدلي وو واړه ئې له قلعې نه خارج کړۀ او بکرماجيت چې مشر ځوے د دۀ وۀ له زرو نعلبندي ئې په خمت د سلطان راستوۀ او مقرر ئې کړۀ چې هميشه په رکاب سعادت انتساب کښې حاضر

وي. [۲۶] سلطان سکندر له هغه ځایه بیانې ته چې مستقر خلافت وه تشریف وفرمایه. او برسات ئې هورته تیر کړ (۱) پس له ختو د سهیل په سن انصو لس (۲) په تسخیر د قلعه دمند رائل (۳) ئې نښان د فتح او د نصرت بلند کړه. راجه د دې قلعه امان وغوښت او قلعه ئې اولیائے دولت ته تفویض او تسلیم کړه. سلطان سکندر په ورانول د بت خانو حکم عام وفرمایه او مانې او ځایونه ئې د کافرانو هم خراب کړه. نور ئې و تخت (د سلطنت) د بیانې مراجعت وفرمایه (۴) او په دا کال کښې هوا او حرارت تر هسې حده سرکشي او طغیاني وکړه چې اکثر خلق په توده تبه (۵) او په سخت رنځ ګرفتار شه او ځنه ځوانان او ډیر هلکان له ډیرې ګرمی ومړل. په دا ورځو کښې د سلطان سکندر په خاطر الهام مآثر تیر شول چې په کناره د آب جون هسې ښهر آباد کا چې سلطانان او بادشاهان ئې پسندوي او ځاے د استقامت د امراګانو شي چې په قوت د دوي اطراف و جوانب مطیع او فرمان بردار اوسي او طاقت ئې د سرکشي او طغیاني پاتو نه شي. نور ئې څو تنه چې په دانش او په شعور موصوف وو ورته ئې وفرمائیل چې په کشتی کښینئې او په دواړه لوریه د چندوار او تر دهلي دواړه کنارو ته نظر کوئ. هر ځاے چې مناسب د ښهر او د قلعې وینئ په عرض عالي ورسوئ. هغه جماعې مطابق د حکم عالي په تاکید تمام دواړه غاړې د دریاب په نظر راوړے او په ډیره ملاحظه تلل څو په دا ځاے راغلل چې اوس ښهر د اګرې پرې ابادان دے نور ئې په عرض ورسول. سلطان سکندر خود توجه وفرمائیله دا مکان مبارک ئې تر نظر مبارک تیر کړ ډیر ئې پسند او دلنشین شه. حکم ئې وفرمایه چې په دا ځاے اعلي ښهر آباد او لویه قلعه بنیاده کړئ. په سن د انصو یوولس آباداني د اګرې د ښهر وشوه. (۶) القصه قلعه ئې د دهولپور حواله په ملک معزالدین کړه او خود ئې په طرف د ګوالیر کوچ وفرمایه. چې کفار فجار د ګوالیر د ګردو نواح په قتل ورسوي. هرګاه چې طغ د سلطنت په پرګنې د چناور (۷) ورسید چې لس کروهه و ګوالیر ته واقع دے. راجه مان له قلعې د ګوالیر راکوز شه او عظیم جنګ ئې برپا کړ او اخر شکست کافرانو بیاموند او ډیر په تیغ بې دریغ داخل په جهنم شول. سلطان سکندر نامدار امراکان په دهولپور کښې دپاره د تاخت او باخت د متمردانو چې په ګردونواح د ګوالیر وو پریښول او خود په مستقر خلافت چې بیانه وه متوجه شه او تمام برسات ئې په عیش او په عشرت او په انبساط او مسرت تیر کړ پس له ختو د سهیل په طرف د قلعې د اونتګر (۹) روان شه او هم په سن د انصو یوولس په اکثر ولایت د هندوستان عظیمه زلزله واقع شوه. یوه بزرګ تاریخ د دې زلزلې "قضائي" لفظ سره موندلے دے تر هسې حده چې غرونه هم په جنبش راغلي وو او لوے لوے عمارتونه له ویخه ولویدل او

ژونیو قیامت او مړیو دا زلزله حشر وګاڼۀ. او له زماني د حضرت آدمؑ تر دا پورې دا نوع زلزله په هندوستان کښې په وقوع راغلې نۀ وه. او دا قسم زلزله په هیڅ تاریخ کښې مرقوم[۲۷] شوې نۀ ده. سلطان سکندر دهولپور ته ورسید. عماد خان او مجاهد خان فرملي ني له لسو زرو سورو او سلو هاتیانو سره په تسخیر د قلعه اونتګر (۱) په مخ کښې روان کړۀ په دریم تاریخ د رمضان المبارک سن انصو دولس سلطان سکندر هم په فوځ مذکور پسې روان شۀ. او په نواحي د اونتګر (۱۱) ورسید. حکم ئې وفرمایۀ چې درست لښکر دې تیار شي او په تسخیر دې د قلعه متوجه شي. سلطان په هغه ساعت چې اختر شناسانو یعني نجومیانو غوره کړے وۀ پخپله ئې په نفس نفیس توجه وفرمائیله او جنګ ئې برپا کړ او داد ئې د مردلګی او د شجاعت ورکړ. مردانه خوانان و قلعې ته راغلل او کافران ئې مړۀ کړۀ کۀ هر څو د کوټ خلقو فریاد د الامان وکړ هیڅ کس ئې غوږ و فریاد ته نۀ نیو راجپوتان و خپلو حویلو ته راغلل عیال او اطفال ئې خپل پخپله مړۀ کړۀ. سلطان پس له فتحې شکرانه د پروردګار په ځاے راوړه او قلعه ئې حواله په مکن او په مجاهد خان کړه. (۲) او حکم ئې وفرمیۀ چې بتخانې خرابې او په ځاے ئې مسجدونه بنا کړي او خود ئې تشریف و دهولپور ته وفرمایۀ. او په دغه ورځ ډیر خلق له تندې (۳) تلف شۀ. القصه سلطان په اخر د صفر ختم الله بالخیر والظفر سن انصو دیرلس داخل په دارالخلافت د اګرې شۀ او برسات ئې هورته تیر کړ. په اول د سهیل د ختو په تسخیر د نرور د قلعې متوجه شۀ. (۴) او په جلال خان چې حاکم د کالپي وۀ فرمان صادر شۀ چې له واړه جاګیردارانو او امراګانو چې متعلق د هغې نواحي دي یو د بله دې په اتفاق قلعه د نرور محاصره کا. هرګاه چې جلال خان شهزاده(۵) نزدې و قلعې ته ورسید اهل د قلعې مخ له صلحې وجاریوست او جنګ ئې آغاز کړ پس له څو ورځو سلطان هم ور ورسید. جلال خان لښکر په ښۀ ساز او په سلاح نظر په امید د منصب د اضافې په نظر د سلطان تیر کړ سلطان له کثرته د لښکرو وویرید او ډیره ملاحظه ئې په خاطر عاطر تیره شوه. له خانه ئې ووې چې دے په ورو ورو خراب کړے بویه. القصه هرګاه چې محکمي د قلعې تر حده تیره وه او هره ورځ طرفین جنګ و جدل کیدۀ او لښکر په شهادت رسیدۀ. هرګاه چې جنګ او جدل مدت وغوښت یوه ورځ سلطان حکم وفرمایۀ چې تمام لښکر هم سوارۀ هم پیاده دې تبرونه او بیلونه او نور اسباب د کوټ د خرابی دې واړدواخلي او په یکبارګی دې په قلعه حمله وکا او کوټ دې ووړ ووړ ذره ذره کا. بهادرانو خوناسو په هر طرف مطابق د امر عالي په کوټ هله وکړه. او تردد او مردانګي ئې د وړاندې کړه او سلطان په بام بلند په ننداره د جنګ ولاړ وۀ. ناګاه خوانانو دیوال د قلعې مات کړ او

مستعد په ننوتل شول. لیکن د کوټ خلقو هغه برابر کوټ چې سوراخ پکښې شوے وۀ بیا ئې سر له سره جوړ کړ. په دا میان کښې ډېر خلق د سلطان تلف شۀ. معلوم ئې کړ چې فتح په اسانی نۀ میسریږي حکم ئې وفرمایۀ چې جنګ موقوف کا او کوټ دې محاصره لري چې کافران خود بخود عاجز شي. پس له هغه ئې شهزاده جلال خان په قید کړ او حواله ئې د ابراهیم خان لوحاني او سلیمان فرملي او ملک علاوالدین (٦) جلواني کړ چې محبوس ئې په قلعه کښې د اونتګر(٦١) ساتي. پس [٢٨] له هغه خلق د نرور د قلعې په سبب د غلې او د اوبو د کمي عاجز شول له ماله او آل عیاله سره وتښتیدل. سلطان واړه بتخانې وراني کړے او مسجدونه ئې په ځاے بنا کړۀ. او وظیفې ئې د عالمانو او طالبانو په سر د مسجد مقرري کړے چې په بانګ و نمانځۀ او په تدریس د علم په جمعیت مشغول وي. چې کار د دین رونق او بهار او رسم او رواج مومي. په دا میان کښې شهاب الدین ځوے د سلطان ناصر الدین چې بادشاه د مالوې وۀ له پلاره ازار شۀ په ملازمت د سلطان متوجه شۀ. او له چندیري (١) په طرف د نرور روان شۀ هرګاه چې په قصبه د سپری (٢) راغے سلطان له دې خبرې آګاه شۀ. اس او خلعت شاهانه ئې مخې ته ورستول او پیغام ئې ورته ورکړ کۀ چندیري حواله په ګماشته ۏ دې ما(٣) کړے هسې استمداد به په حق د قلعه په ظهور راشي چې د سلطان ناصر الدین په هیڅ وجه پرې دسترس نۀ وي. (٣) شهزاده شهاب الدین سپارل د قلعې مصلحت ونۀ لید، وجاروت بیا و خپل مقام ته لاړ (٥) سلطان سکندر په سن د انصو څوارلس له نروره کوچ وکړ او په غاړه ئې د آب سپری نزول وفرمایۀ. په خاطر (٦١) عاطر ئې تیر شول چې قلعه د نرور ډېره مستحکمه قلعه ده کۀ په لاس د دښمن کښیوزي په آساني به ترې رانیوۀ نشي. نور ئې بله قلعه نزدې ګرداګرد ورته بنا کړه. چې د غلیم پرې دسترس نۀ وي او جمعي دغدغه ئې له خاطره برطرف کړه. په جمع خاطر و قصبې ته د لهائیر(٧) راغے. یوه میاشت ئې توقف وکړ په دا میان کښې نعمت خاتونه ارتینه د قطب خان لودي شهزاده جلال خان سره راغله او لښکر پیوسته شوه. سلطان ئې په دیدن ورغے او دلجوئي ئې د دوې وکړه. نعمت خاتونې تقصیر د جلال خان ترې وغوښت. سلطان قبول کړۀ او صل(٨) شل اسونه او یوولس هاتیان(٩) له خاصه ۏ خلعتونو سره ئې ورته عنایت کړۀ. او حکومت ئې د کالپی او محصول ئې په جاګیر کښې و جلال خان ته مرحمت کړ (١٠) او له نعمت خاتونې سره ئې رخصت کړ په سن انصو پنځلس سلطان له لهائیره(١١) په نواحي دهتکانت(١٢) ورسید. دا محال ئې له ګرده د شرک او له غباره د طغیان پاکیزه او مصفا کړ او متمردان ئې په خپله جزا ورسول. نور ئې ځاے په ځاے تانې مقررې کړے او خود ئې و دارالخلافت ته نزول اجلال وفرمایۀ. په

دا میـن کـبنې خبر ورسید چې احمد خان خوږے د مبارک خان لودي چې حاکم او جاګیر دار د لکهو (۱۳) وۀ پـه مصاحبت ئې د کافرانو لار د ګمراهی او د ارتداد ونیوه او له دینه د اسلام بـر ګشته شۀ. فرمان په نامه د محمد خان چې ورور د احمد خان (۱۴) وۀ صادر شۀ چې زر ئې په قید کړه. او حضور ته ئې راستوه. (۱۵) په دا ورخو کبنې محمد خان نمسے د سلطان ناصر الـدیـن مالوي له خپله نیکۀ وترهیدۀ او درګاه ته د سلطان راغـے. په دا باب جلال خان شهزاده تـه فـرمـان صـادر شـۀ چې چندیري په جاګیر کبنې د محمد خان نمسي د سلطان ناصر الدین مقرر کړه. دے په چندیري کبنېنوه او ممد او معاون ئې اوسه چې له سپاه د مالوې و دۀ ته ازار او اضرار ونۀ رسي. سلطان په طریق [۲۹] د ښکار و دهولپور ته راغـے او دورته (۱) ئې عالي محل بنا کړ او په سن د انصو شهاړس چې دولت ئې په ترقی او طالع ئې یار وۀ بل ملک ئې په لاس کبنیـوت. او تفصیل د دې واقعې په طریق د اجمال دا رنګ دے چې علي خان او ابابکر لـه قـومـه د مـحـمـد خـانه چې حاکم د ناګور وۀ مکر او غدر ئې په حق د محمد خان په خاطر کبنـې راوړ او وې ویـل چـې په هر صورت چې شي دے هلاک (او ملک ئې په خپل تصرف کبنې کړے بویه. (۲) محمد خان له دې مکره آګاه شۀ دسترس ئې پرې بیاموند باعث د دوي پـه مرګ شۀ. (۳) دوي دواړو فـرصـت بیـامـونـد په تیښته و سلطان ته راغلل. محمد خان له مـخـالـفـتـه د هم چشمانو او بل اجتناب د اقربا او پناه وړل د دوي و دې رنګ عالي سلطان ته عـاقبـت انـدیشـي نـې وړانـدې کړه. عرضداشت ئې مشتمل په اخلاص له ډیره نذره او له ښو تـحـفو سـره و درګاه ته د بادشاه واستوۀ او خطبه او سکه ئې په نامه د سلطان په ښهر کبنې د ناګور جاري او مروجه کړه. او خان ئې له جمله ۀ دولت خواهانو د دولت کړ سلطان سکندر لـه اوریـدو د دې خبـر ډیـر خـورم او خـوشـحال شۀ. اس او خلعت خاص ئې و محمد خان ته واستـوۀ او لـه دهـولپـوره نـې مراجعت و دارالخلافت اګرې ته وفرمایۀ. په اګره کبنې ئې څو ورخـې پـه داد او په بخشش او په سیر او په ښکار او په عیش او په عشرت تیرې کړے. (۴) او پـه وخـت د دې بـادشـاه چـې سـکـنـدر جـاه او جـم مـنـزلـت وۀ اګره دارالخلافت او مستقر السـلـطـنـت شـوه. (او پـخـوا تر دا یو کلے له توابعو د بیانې وۀ) (۵) پـس لـه هـغـه په طرف د دهولپور ئې کوچ وفرمایۀ او په سلیمان خوي د خان خانان فرملي حکم صادر شۀ چې په طرف د اونتګر (۶) او سـرحد د سوي سوپر (۶۱) پـه کـمـک د حسین خان نومسلم چې رائے ډونکر ئې نوره وۀ متوجه او سرګرم شي. دۀ عذر په میان راوړ او وې ویل چې بعد او دوري له ملازمت اختیـارولے نۀ شم جاګیر ئې د دۀ تغیر کړ او په مکن شیخ زاده ئې مقرر کړۀ. پس له څو ورخو ئې و مستقر الخلافت ته چې اګره وۀ نزول اجلال وفرمایۀ او په دستور قدیم ئې فرمانونه صادر

کړهٔ او اکثر امراګان ئې له سرحدونو و حضور ته طلب کړهٔ. په دا وخت کښې سخت رنځ و سلطان ته ولاړ شهٔ. او سلطان په هومره رنځ او په کم قوتی له ډیره غیرته هرګز بار عام ته ترک ونکړ او په ضبط او په نسق او په بندوبست د ملک او داد او سخاوت پیوسته سرګرم او مشغول وهٔ (او اکثر به ئې سواري هم کوله) (۷) رفته رفته رنځ پرې هومره غلبه وکړه او کار ئې په هسې حد ورسید چې خځوزے او اوبهٔ ئې تر حلقه نهٔ تیریدې. (۸) څو ئې ورروستی ساه په اخر ورسیده او سترګې ئې د امید له دنیا پورې او په دولت د عقبي ئې پرانتې او سن شل انصو وهٔ چې سکندر وفات شهٔ.

سکندر شہ ہفت کشور نماند نماند کسے چون سکندر نماند (۹)

تابوت ئې د سلطان واخست او دهلي ته ئې راوړ او نزدې و مقبرې ته د پلار په هغه باغ کښې چې دهٔ ساز کړے وهٔ مدفون ئې کړ. او بادشاهي او سلطنت د دې عالي بادشاه چې دارا نشان او جم جاه او معدلت پیشه وهٔ اتهٔ ویشت کاله او پنځهٔ میاشتې وهٔ. او مناقب او مفاخر او عجائب د دې بادشاه هومره نهٔ دي چې په قید د قلم راشي. لیکن په طریق د کوتاهی او اختصار [۷۰] مجملاً به ئې له ډیرو فضائلو خصائلو او له اوضاعو او له اطوارو وونیل شي څو تاج د سلطنت په سر د دې بادشاه آراسته وهٔ هومره ګلزار د عالم په سرسبزی "او تازګی اراسته او پیراسته وهٔ او په وخت ئې د سلطنت بارانونه ډیر فائده مند وریدل او ارزاني د غلې په هسې اندازه ورسیده چې په هیڅ دور کښې دا قسم ارزاني د چا یاده نهٔ وه. او خلق الله ته په دور د دهٔ تمام رفاهیت او کمال جمعیت حاصل شهٔ. او په زمانه د دهٔ رواج او رونق د شریعت غرا او ملت بیضا په هسې مرتبه وهٔ چې هر چې به عالمانو صالحانو فرمائیل یوه ذره به تخلف او تجاوز په وجود نهٔ راتهٔ. لکه وائي چې په وخت د دهٔ یو زنار دار وهٔ بودهن نومیدهٔ او په موضع کښې د کاتهیر (۱) اباد وهٔ. یوه ورځ ئې په حضور د مسلمانانو ووې چې اسلام حق دے او دین د دې مونږ درست دے دا خبره و عالمانو ته ورسیده. قاضي پیاره (۲) او شیخ بدها (۳) چې په ملک د لکهنوتي (۴) کښې اعلم العلماء او مقتدا د دور وو فتویٰ په قتل د بودهن زنار دار ورکړه. (۵) اعظم همایون چې حاکم د هغه ولایت وهٔ زناردار مذکور او حضرت قاضي او شیخ مذکور ئې په ملازمت د سلطان سکندر روان کړهٔ. او په دا وخت کښې سلطان په سنبل کښې وهٔ. او سلطان نظر په دا معنیٰ چې څوک په ناحق مړ نهٔ شي په واړه عالمانو چې د دهٔ د ملک وو فرمان عالیشان صادر کړ. واړه جمع شول او مباحثه د علم برپا شوه. (۶) پس له ډیره رد و بدله د اکثرو عالمانو اتفاق په دا وشهٔ چې اول ئې په قید کړئ بیا ورته اسلام عرض کړئ کهٔ انکار او ابا راوړي مړ ئې کړئ. زنار دار مذکور ئې محبوس کړ او اسلام ئې ورته

بیان کړ. اما ابا ئې راوړه نور لاچار په مرګ د دهٔ فقر فرمان صادر شهٔ چې مطابق د روایت او فرموده د عالمانو په عمل راوړي. او عادت د سلطان سکندر دا رنګ جاري وهٔ چې هره ورځ به ئې بار عام یعنې عدالت کاوهٔ او پخپله به ئې داد د مظلوم او پاداش و ظالم ورکاوهٔ. او بعضې اوقات به له صباحه تر نماز خفتنه په دد د عدالت او په غور د مسکینانو مشغول وهٔ. او پنځه واړه نمونځونه به ئې علي الدوام په جمعه مجلس (۷) ادا کول او په ایام ئې د سلطنت په واقعي لاس د زمیندارانو د هندوستان له ظلمه او له تسلطه کوتاه شول. او هرګز به ئې په هوا د نفس عمل نهٔ فرمایهٔ. او په خلائقو چې امانت د پروردګار دے ډیر مهربان وهٔ. او عادت او تقویت به ئې د راستي او د راست ګوئي کړ یوه ورځ خپل ورور چې باربک شاه وهٔ په جنګ د سلطان مستعد ولاړ وهٔ (۸) او صفونه د جنګ طرفین قائم وو په دا میان کښې یو درویش پیدا شهٔ او لاس ئې د سلطان ونیوهٔ او وې ویل چې له خدایه دې تا فتح او نصرت غواړم. سلطان په کراهیت ترې لاس وخکوړ، درویش وویل چې زهٔ زیړے او بشارت په فتح او په نصرت کړم او ور د نیک فالي وهم، تا په څهٔ له ما سخت لاس وخکول. سلطان وفرمائیل چې هر ګاه طرفین جنګ د اسلام دے. [۱۰] حکم د فتح او فیروزي په یوهٔ طرف کړے نهٔ بویه بلکه بانده دي چې وونیل شي چې اے پروردګاره په هر څهٔ کښې چې رفاهیت د خلق الله او جمعیت د عیال الله وي هغه په وجود راوړه او فتح و هغه چا ته چې اصلاح او خیریت پکښې د خلق وي له حق تعالي غوښتې بویه. (۱) او سخاوت ئې په دا رنګ مرتبه وهٔ چې په کال کښې دوه ځله فقیران او مساکین به ئې د تمام ممالک په تفصیل وکښل راوستل او در یوهٔ ته به ئې فراخور د حال خرڅ په وجه احسن ورکړ او هر کس چې به په اراده د نوکري ورته راغے اول به ئې له نسبه د پلار نیکهٔ پرسش ترې وکړ موافق د حال او د پائے به ئې کار له هغه شخص بې له دې چې نظر ئې په اس یا طمطراق وکا په تقدیم او په وجود راوړ او هر کس چې به جمعیت کم وهٔ هغه به ئې رخصت کړ چې و خپل جاګیر ته لاړ شي او سمان او سرانجام په واقعي وکا. پس له یوهٔ کاله دې په ملازمت مشرف شي او غیرت او تعصب ئې د اسلام په دا مرتبه وهٔ چې هر ځاے چې معابد او ګنیسې د کافرانو وے واړه ئې خرابې او ویرانې کړے او په ځاے ئې مسجدونه بنا کړهٔ. او په متهرا (۲) کښې چې محل د کفرانو د غسل وهٔ سرائے او بازار او مدرسې او مسجدونه ئې برپا کړهٔ او موکلان ئې وګمارل چې هیڅ یو هندو او کافر مهٔ پریږدئ چې غسل وکا (۳) او واه د حجام په خان دے چې وبښتهٔ د کافر کل کا (۴) او په علانیه ئې رسم د کافرانو په باد ورکړے وهٔ او ارتینې ئې له زیارتونو منع کړے وے. (۵) او په عهد ئې د سلطنت علم او عالمانو ډیر رواج موندلے وهٔ. او

اکثر دولت مند او امرا زاده په تحصیل د علم او د تقویٰ مشغول شول او په فقیرانو درویشانو ډیر مهربان وهٔ.

اگر بایدت شوکت وسروری دل زیردستان بدست آوری

هر گاه چې سلطان بهلول تر دنیا تیر شهٔ سلطان سکندر په قصد د سلطنت په ملازمت د حضرت قطب الاقطاب شیخ سماء الدین کنبو (٦) چې د دهلي وهٔ ورغے او عرض ئې کړهٔ چم زهٔ [٧٦] (١) نسخه د صرف میر چې میزان د علم صرف دے غوارم چې په خلعت ئې د حضرت ولولم نور کتاب ئې له بغله راوکیښ او په مخ کښې ئې د شیخ کښیښ. شیخ وفرمائیل "بدان اسعدك الله تعالیٰ فی الدارین" (١١) په مجرد د دې وئیل سلطان سکند لاسونه مبارک د شیخ کښل کړهٔ او عرض ئې وکړ چې مراد او مقصود دې ما هم دا کلمه و چې له زبان مبارک په حق د بنده ظاهره او هویدا شي. (٢) حضرت شیخ ته حسن ادب د سلطان سکندر ډیر ښهٔ ښکاره شهٔ او له مخه د باطن ئې وفرمائیل چې ستا نظام مې له خدای غوښتے دے چې سکندر د خپل وخت شے (٣) او ډیر بنده گان د حق تعالیٰ له تا کامگار او فیض یاب شي. شاهزاده دا دعا په فال ونیوه سرور شهٔ. نظم:

مبارک بود فال فرخ زدن
نه بر رخ زدن بلکه شه رخ زدن
چو عاجز شود مرد چاره سگال
ز بیچارگی در گریز د بفال
به بهود زن فال کان سود تست
که فال نکو اصل بهبود تست (٤)

او په یمن د دعا په هسې مرتبه ورسید چې مبرا له تفصیله او له بیانه وهٔ میرزا روښاني وائي نظم:

ډیر خدمت د کاملانو کړے بویه چې هر خواست ئې له خاونده مستجاب شي (٥)

حدیث اہل صفا ترجمان تقدیر است
بود ضمیر در ایشان مثال (٦) لوح وقلم
سعادت ابدی در وفاق شان مضمر
شقاوت ازلی در خلاف شان مدغم

او هم میرزا روښاني وائي بیت:

هغه کس به تر ابده ولاړ نهٔ شي هر چې پریوځي د فقیر د زړهٔ له اړک

او هر يو امرا او ارباب دولت به چې وظيفه او مدد او امداد د درويش او د محتاج په تقديم راوړ هغه به ډير و سلطان ته معزز او معتبر وۀ او ورته به ئې فرمائيل چې بنا د خير درويشي ده.روادار ئې په نقصان مۀ شه او په خبرداری د سپاه او د رعيت تر هسې ځايه رسيدلے وۀ چې پټ راز د خلقو به و دۀ ته رسيدۀ او ګاه ګاه به هغه واقعه چې تنها به له چا په خلوت کښې په وجود راغلي وه چې هيڅ زيان او نقصان به پکښې نۀ وۀ ظاهره به ئې کړه. تر هسې حده چې په خلق کښې شهرت شوے وۀ چې سلطان تسخير غيب يعني د پيريانو کړے دے چې خبر له پوشيده او له مغيبات حال وائي. نقل دے چې يوۀ مرد په زمانه کښې د سلطان سکندر آيره د ديوال کنده او په وخت د کندلو ډيوه خلور کوټې په زمکه کښې رابنکاره شوه. هغه مرد و خپلو متعلقانو ته ووئيل چې دا چراغ وساتئ لائق د کور دے. هر ګاه چې شپه شوه څخو تيل ئې په ډيوه کښې واچول ډيوه ئې بله کړه نور في الحاله دوه سړي پيدا شول. هغه مرد ورته ووئيل چې تاسو څوک يئ؟ دوي ورته ووئيل چې مونږ مؤکلان د دې چراغ يو هر کس چې دا چراغ بل کا مونږ محکوم او مامور د دۀ يو او هر چې فرمائي هغه په ځائے راوړو. بيا طرفه دا کار [۷۷] دے چې هغه مرد په لور د يوۀ سوداګر مئين وۀ. په سبب د تجربې ئې خپل راز په ميان کښې راوړ هغه مؤکلانو جينۍ د کټه سره چې پرې اوده وه حاضره کړه. هغه مرد پس له خپله عشرت ته مواصلته و مؤکالانو ته ووئيل چې دا جل چې مو له هغه ځايه راوړې وه بيا ئې هغه حائے ته ورورئ. في الجمله هره شپه به ئې هغه جل راوړه او وړه او هغه مرد ته ئې احتياج د هيڅ څيز پرې نبن. رفته رفته لۀ دې معاملې هغه جل زيړه زرغونه او رنځوره شوه. هغې جل يوه ورځ کيفيت د خپل احوال و مور ته بيان کړ. مور ئې پلار له دې واقعې خبر کړ او وې وئيل چې هره شپه دوه تنه مخ له غيبه رابنکاره کا او دا لور دې تا واخلي او يو ئې سي او يا دا چې په کور کښې زمونږ پټ شي په وخت د فرصت دا واخلي يو ئې سي او يو ځوان دے درسته شپه نرد د مواصلت او عشرت ورسره کا(۱) هر ګاه چې شپه په اخر شي بيا ئې و.کور ته راوړي. هغه مرد چې سوداګر وۀ يوه حيله ئې برپا کړه او دا مقدمه ئې و سلطان سکندر ته په عرض ورسوله. بادشاه و کوتوال ته وفرمائيل چې تفحص او تفتيش د دې واقعې په تاکيد تماسره وکا. کوتوال کۀ هر څو په دا باب سعي وکړه ليکن تر سره نشوه. او هيڅ اګاهي ئې له دې حاله بيا نۀ مونده. آخر سلطان سکندر و مياں بهوا چې د دۀ وزير وۀ ورته ئې ووې چې پروې او تجسس د معاملې په تاکيد کړے بويه. مياں بهوا هغه سوداګر ته ووې چې شيشه ډکه په زعفرانو و لور ته ورکړه چې په جامو او په بستر د هغه شخص زعفران پورې وهي.هم هغه رنګ ئې په عمل راوړۀ. هر ګاه چې هغه جل زعفران له ځانه يوړ او په جامو ئې

د هغه خوان ونوستل. خوان حقیقت د کار معلوم کړ پس له هغه مؤکلانو ته ئې ووې چې او م
ځـۀ تـدبیـر کـړے بویه. مؤکلانو زعفران راوړۀ هم سلطان او هم په جامو د اکثرو امراګانو ئې
پوړ وهل. سلطان چې دا حال ولید متفکر او متحیر شۀ او نۀ پوهیدۀ چې چاره د دې کار څۀ د
اخـر الامـر وې فرمائیل چې حل د دې عقدې بې له نرمی او له ملائمته کیدونے نه دے. پس ل
هـغـه ئې قسم د کلام الله یاد کړ او منادي ندائ په تمام ښهر کښې وکړه چې کۀ صاحب د د
معـامـلـې راشـي او خان ښکاره کا هر چې ئې مراد او مقصـود په خاطر وې واړه به تر سره ش
چې هغه خوان معلوم کړه چې اخر دا کار دا نتیجه لري. ډیوه ئې واخسته او سلطان ته راغـے ا
خـان ئـې ښـکاره کړ او حقیقت ئې په واقعي عرض کړ. سلطان ارزو د دۀ پوره کړه او ډیوه ئ
تـرې واخستـه پـه خـلـقو کښې ئې شهرت دا رنګ وشۀ چې کشف او کرامات او اګاهي چ
سـلـطـان په پوشیده حال درلۀ سبب ئې هغه ډیوه وه چې مؤکلانو د ډیوې به له هره ځایه چې
سلطان ترې خبر غوښت، ورته به ئې رساوۀ والله اعلم. نقل دے چې یو وخت په زمانه د سلط
سـکـنـدر چـې لـودي وۀ دوه ورونـه له ساکنانو د ګوالیر له ډیرې بې نوایئ له خپله وطنه روا
شـول و لښـکـر تـه د سـلـطـان سکندر راغلل او په دغه وخت ئې لښکر په مهم [۸۷] د بعض
کـافـرانـو او پـه تـاراجولو د خنو متمردانو تعین کړے وۀ. دوي هم دواړه ورونه له هغه لښکر
سـره روان شول. اخر پس له جنګه لښکر لاس په لوټ او په تاراج کښیښ. هغه دواړو ورون
هم لوټ وکړ او چې ملغرلې او دوه لعلونه ئې په لاس راغلل یوۀ له دواړو ورونو وونیل چې ف
الـجـمـلـه مدعا مو حاصله شوه نور ذلت او محنت ځکولے نۀ بویه بهتر دادي چې مخ په کو
روان شـو او اوقـات په فراغت په خپل کور تیروۀ هغه بل ورور ئې وونیل چې هرګاه وړومب
خـل خـدائـے دومره غنیمت وبخښۀ سکه نو تر دۀ زیات ښۀ راوبخښي. کشر ووې (۱) چې ز
هیـڅرته تلونے نۀ یم حصه و ما وته راکړه چې و خپل کور ته روان شم. اخر ئې مال دوه حص
کـړ یـو لـعـل او څو دانې ملغلرې د یو ورور او یو لعل او څو ملغلرې د بل ورور ورسیدے. نو
هـغـه یو ورور و خپل کور ته روان شۀ مشر ورور خپله برخه ملغلرې او لعل حواله په ورور ک
چـې دې مـا حـصـه و ارتینې ته دې ما ورکړه او هرګاه چې متاع ورکړے رسید ئې راستوه. ه
ورور پـه واسطه د شوم طبعی حصه د دۀ هم په خپل تصرف کړه. هرګاه چې مشر ورور هم ل
سـفـره مخ په کور ونیوو او کور ته ورغے تفحص ئې د لعل او د مروارید وکړ ارتینې ئې وو
چـې مـرغـلـرې و ماته رسیدلي دي لیکن له لعله خبر نۀ یم. اخر چې له وروره ئې لعل وغوښ
وې وئیـل چـې ما دې تا ارتینې ته ورکړے دے او ارتینې غریبې وې چې زۀ لعل نۀ پیژنم. ورو
نـې ووې چـې مـا ورکـړے دے امـا دا مـنکره شوه. هغه مرد په ګمان ارتینه په لتو ووهله. هغ

ارتینه وپوهیده چې په دا سرزنش کښې به زهٔ هلاکه شم و میاں بهوا ته چې وزیر د سلطان وهٔ او فراست او دانائي ئې په کمال وه ورغله او حقیقت ئې د احوال ورته بیان کړ څښتن ئې د ارتینې له خپله وروره ور طلب کړ او استفسار ئې د مقدمې ترې وغوښت. ورور د هغه شخص ووئیل چې ما لعل و ارتینې ته د دهٔ ورکړے دے. په دا معامله کښې میاں بهوا درمانده شهٔ لاچار ئې حقیقت و سلطان ته معروض کړ او ګواهان ئې د دروغو چې لیور د ارتینې په دروغ له خانه ملهٔ کړي وو حاضر ئې کړهٔ. (۲) سلطان له ګواهانو پرسش وکړ، ګواهانو ووئیل چې په حضور زمونږ و ارتینې ته د دې شخص لعل ورکړے دے. سلطان دواړه ورونه یو د بله جدا کړ او وې فرمائیل چې ترکیب د لعل دواړه ترتیب کړئ. چې څو مقدار او څو اندازه وهٔ. دواړو ورونو ترکیب د لعل په یوه انداز جوړ کړ سلطان هغه ترکیب خان څخه وساتهٔ. نور ئې ګوهانو ته وفرمائیل چې تاسو هم جدا جدا ترکیب د هغه لعل د مومو ساز کړئ. دوي هرګاه چې دواړو لعل لیدلے نهٔ وهٔ هر یوهٔ ترکیب د لعل په تفاوت ساز کړ پس له هغه سلطان هغې ارتینې ته ډیر تهدید او تاکید سره وفرمائیل چې ترکیب د لعل له مومو ساز کړه. ارتینې ووئیل چې دراصل ما هغه لعل لیدلے نهٔ دے پس صورت ئې څهٔ رنګ ساز کړم. په دا میان کښې سلطان په فراست جدا او حقیقت د معاملې معلوم کړ او ګواهان ئې په معرض د سیاست او د تنبیه راوستل چې رښتیا ووایئ ګنه تاسو به په سخت عذاب ووژنم. هرګاه چې دوي سلطان په دا کار کښې ثابت او عادل ولید بې له راستی هسې امر چې د دوي د نجات او د خلاصي وهٔ په نظر ئې رانغے اخر په خپلو [۷۹] دروغو ئې اقرار وکړ او وې وئیل چې مونږ په واسطه د طمعي راستي پټه کړه او صریح دروغ او محض بهتان مو په دې ارتینې بار کړ سلطان سکندر په هغه مدعي دروغګو ئے سیاست وفرمایهٔ. هغه شخص په جنس هغه لعل راوړ او تر نظر مبارک ئې تیر کړ. سلطان هغه لعل و هغه ارتینې ته ورکړ شرط د پیژندګلو او د کمال فرست د سلطان معلوم شهٔ او په شعر فارسي کښې د سلطان ښهٔ دسترس وهٔ او خپل تخلص ئې ګلرخے (۱) ایښے وهٔ. هرګاه چې حقائق او معارف اګاه شیخ جمالي کنبو چې د دهلي وهٔ له سفره د عراق او د ماورا النهر او روم او ترک راوجاروت (۲) په هغه وخت کښې سلطان په سبل کښې وهٔ. سلطان په ډیر اشتیاق منظومه رقعه په طلب د شیخ او په اظهار د خپل اشتیاق او په خواهش د کتاب مهروماه چې له جمله تصنیفونو د شیخ وهٔ ورته وکښه. او وائې ستوله او هغه قطعه چې سلطان سکندر لودي وئیلې وه دا ده . قطعه:

اے مخزن گنج لا یزالی — وے سالک دین جمالی
در گرد جهان بے زدی سیر — منزل خود رسیده بالخیر

بودی تو مسافر زمانه — الحمد که آمدی خانه
مکه مدینه گشتی — گوہر بدی و خزینه گشتی
شیخ دوستان شود سیر — تشریف نمودش کشد دیر (۳)
باید که کتاب مهر و ما هم — ارسال چنانچه خواهم
اے شیخ بما برس بزودی — بسیار مسافرت نمودی
بکشاۓ بسوۓ گهم گام — تا دریابی ز گلرخی(۴) کام
جانم بجمالی تو طپان است — ولی مرغ مثال در افغان است
من اسکندر و تو خضر مائی — آن به که بسوۓ ما بیائی
مهر کشد دو دیده را نور — آن مه نه شود زدیده ام دور (۵)

او دا واقعه په دستخط د سلطان سکندر په طریق د یادگار له فرزندانو څخه د شیخ جمالي تر اوسه شته هر گاه چې شیخ دا رقعه مطالعه کړه په نیت د سلطان د ملاقات تشریف ئې و سنبل ته وفرمایهٔ. (٦) سلطان له ډیره شوقه استقبال د شیخ وکړ. او گرمي د صحبت د طرفینو هومره وشوه چې زیات تر هغه په تصور نهٔ راځي. او اکثر خلق خدائې په وسیلې د شیخ مذکور له سلطانه بهره مند او فیض یاب شول. پس له وفاته د سلطان سکندر و شیخ جمالي لویې قصیدې او بنهٔ ترجیع بندونه په مرثیه د سلطان ووئیل او هغه مشهور دي. (٧) پس له سلطنته د لودیو چې اووهٔ اویا کاله ئې سلطنت د هندوستان وکړ. په سن د اتصو شپږ څلویښت کار د سلطنت په سلسله د سور یعنې شیر شاه او اسلام شاه ضبط او پیوند ونیو. (٨)

ذکر د سلطان ابراهیم : په سن د اتصو درویشت په تاریخ د اتم له شهر ذوالقعده په بنهٔ ساعت سلطان ابراهیم خوږے د سلطان سکندر په تخت د سلطنت جلوس میمنت مانوس وفرمایهٔ او لوړے هلک واړه په خدمت او په فرمان برداری د دهٔ غاړه کښېښوه. اما په واسطه په گرمی د خپلې هنگامې بعضې امرا گانو چې بندوبست د سلطنت کښې ئې دسترس وهٔ یو د بله ئې قرار او قول وکړ چې سلطان ابراهیم دې په تخت د دهلي [٨٠] متمکن وي. او تر سرحده دې د جونپور فرمان روائي او شهزاده جلال خان دې په حکومت د جونپور مقرر شي او تر سرحده د شرقیه دې حاکم وي. الغرض شهزاده جلال خان په دې اقرار او امداد متوجه د جونپور شهٔ او فتح خان خوږے د (اعظم) (١) همایون (سرواني) (١١) ئې په خپل وزارت سرفراز کړ. په دا میان کښې خان جهان لودي چې له عظیم الشانو امراگانو د سلطان سکندر وهٔ او ریږې او نواحي د هغه لور ئې په تصرف د جاگیر وهٔ له اوریدو د سلطنت او د ملک د قسمت په ملازمت د سلطان ابراهیم راغلے او ژبه ئې د سرزنش او د ملامت پرانته او امراگانو

تـه ئې ډېر سخت ووې چې تاج د سلطنت بې له يوۀ سره زينت نۀ نيسي او ضبط د سلطنت او بندوبست د ملک او جمعيت د خلائق بې له يوۀ بادشاهه ممکن نۀ دے . قطعه:

ملک آباد نه گردد بدو شاه | بشکند از سپهدار سپاه
دو بانو چې شود آشفته | خانه امید مدارش رنه

او هم ئې په دا باب بنۀ وئيلي دي . بيت :

دو جان هرگز بیک پیکر نه گنجد | دوه فرمان ده بیک کشور نگنجد ـ (۲)

او ډېرې فتنې له شراکته د ملک پاځيږي. پس له ډېرې گفتگوئے او د ډېره ردوبدله مصلحت او تـدبيـر دا وشـۀ چـې هـر گاه لا شاهزاده جلال خان قوت او استحکام په هغه ملک نيولے نۀ دے و لا پـه مستـقر الخلافت داخل نۀ دے بائده دي چې فرمان عاليشان مشتمل په عنايات او مهرباني او متضمن په خصوصيات په دا مضمون صادر شي چې هر گاه يوه مصلحت په کار د ملک (۳) چې ضـروري دے پـه ميـان راغلے او بې د يو د بله له حضور کار پيش نۀ ځي. بائده دي مې هغه وررور په طريق د ايلغار يعنې دوړ متوجه د حضور شي. پس په موجب د دې حکم عمل وشۀ. هيبت خان کرگ انداز چې په گفتار او کلام او په لطائف الحيل کښې ئې نظير او عديل نۀ وۀ و جونپور ته لې رخصت کړ. رباعي:

خبـرې گـرانـې اسـانې چرې دي | د چـا مشـکـنـې د چا گوهرې دي
پـه دا دنيا کښې چې څۀ بهتر گڼے | بنـې خبـرې تـرې لا بهتـرې دي

متـلمشهـور دے چـې ديـوال هـم غـوږ لري دا مقدمه پخوا تر رسيدو د شهزاده جلال خان ته رسيدلې وه. هيبت خان کۀ هر څو فن او فنون مکر او حيله برپا کړه اصلاً او مطلقاً کار گر نۀ شـو. اخـر از راه ضـرور هيبـت خـان وجـاروت او حـقيـقت ئې په عرض د سلطان ابراهيم ورساوۀ. سـلطان ابراهيم پس له دې مقدمې له خپلو لويو امراګانو په مثال د شيخ زاده سلطان محمد خوے د شيخ سعيد فرملي (۴) او مـلـک اسماعيل خوے د علاؤ الدين جلواني او قاضي حـمـيد الـديـن حجاب په خدمت د شهزاده روان کړۀ او دې جماعت کۀ هر څو په راوستل د شـاهزاده حسن کلام او لطائف الحيل په تقديم راوړۀ ليکن شاهزاده غوږ د استماع د دوي په کلامو نۀ کړ. [۱۷ الف] او په راتلل د حضور نۀ راضي کيدۀ امراګان مذکور لاچار ترې روان شـو او حـقيـقـت ئـې معروض کړ. سلطان په مصلحت د وزيرانو او صاحبانو چې د دانش او بينش وو فرمانونه ئې په حاکمانو او جاګيردارانو چې د هغه طرف وو صادر کړۀ. او هر يوۀ ته ئـې موافق د پـائے اشـارت وکـړ په دا مضمون چې له فرمان برداري او اطاعت نه د شاهزاده جلال خـان انـحـراف او اجتـنـاب وکا او برحالي او تقرر د خپل جاګير (۱) دې لـه دې جانبه

وشماري. او اکثر امراګانو ته په مثل (۲) د دریا خان لوحاني چې حاکم د بهار وهٔ او نصیر خان جاګیردار د غازي پور او شیخ زاده چې ضابط د اودهـ او د لکهنو وهٔ او هر یوهٔ ته ئې له دوي آس او خلعت او مرصع توره واستوله او خدمت ئې د حضور ورته ترغیب او تحریص وفرمایهٔ. په مجرد د فرمانونو د رسیدو واړه امراګان چې مذکور شول سر ئې له حکمه د جلال خان واخست او عرضداشتونه ئې مشتمل په اخلاص او په دولت خواهی په خدمت د سلطان ابراهیم روان کړهٔ. په مجرد د دې خبر سلطان ابراهیم جشن ترتیب کړ او په تخت [۴۲] کښیناست او واړو امراګانو ته ئې فراخور د حال منصب او خلعت او فیل او اس او تیغ او نقد او جنس وبخښل. او خورد او بزرګ ئې په انعام سرفراز او ممنون کړهٔ. او په فقیرانو او مسکینانو ئې ور د رحمت او د خیرات و صدقات پرانت او مدد او امداد او وظائف او ادرارات ئې د هر یوهٔ چې لس وو بنخلس کړهٔ. او ګوشه نشینانو ته ئې چې صاحب د استحقاق وو کلي په کلي او بنهر په بنهر خیرات او صدقات ورساوهٔ. په کار د بادشاهی او په امور د سلطنت کښې نوے رونق او زینت پیدا شهٔ. شهزاده جلال خان هرګاه چې له حسن سلوک او له اخلاص او اطاعت د امراګانو چې سلطان ابراهیم سره وهٔ واوریدهٔ له جماعت د واقعه طلبانو چې له دهٔ متفق وو هم په کالپی کښې ئې نښان د سلطنت او طغ د مخالفت بلند کړ او قطع نظر له حکومته د جونپور خطبه او سکه ئې په خپله نامه وکړه او کالپی کښې ئې استقامت ونیو او په سلطان جلال الدین مخاطب شهٔ او په سرانجام د سپاه او د سلاح او د توپخانې او د حشم او د خدم او د نور اسباب او تسلي دلاسا د زمیندارانو مشغول شهٔ. هرګاه چې سرانجام ئې د هر اسباب ترتیب کړ نه ډیره لښکره په سر د اعظم همایون چې له طرفه ئې د سلطان ابراهیم قلعه د ګوالیر محاصره کړې وه روان شهٔ. او وکیلان چې کار آزموده او معامله دیده وو و اعظم همایون ته ئې واستول او پیغام ئې ورته وکړ چې تهٔ په خانے دې ما د پلار او د ترهٔ ئې او خود پوهیږے چې مانه هیڅ تقصیر په وقوع نهٔ دے راغلے او نقض د عهد او خلاف د قول له جانبه د سلطان ابراهیم په ظهور راغے. (او د پلار و مال و ملک په هغه برخه چې په طور د وراثت ئې ماته بخښلې وه هم د طمعي نظر لري او د سمون او پیوستون ترون د بې لوظی په توره غوڅ کړے خپلوي ئې له میانه ورکه کړه) تاسو ته بائده دي (۱) چې رعایت د حق وکړئ او اعانت او حق جوئي د مظلوم په همت د خپل ګردن لازم او واجب وشمارئ. هرګاه چې اعظم همایون څخو ازردګي و سلطان ابراهیم ته درله ضعف او ژړا او شکستګي او ملائمت د سلطان جلال الدین په زړهٔ د دهٔ اثر وکړ او خودي او نخوت د برابری د سلطان جلال الدین ئې له خانه ونهٔ لید. (۲) اعظم همایون لاس له محاصرې او له محاربې د ګوالیر د

قلعې نه ونیو. پس له قول و قراره په ملازمت د سلطان جلال الدین مشرف شهٔ او وې ونیل چې اول ولایت د جونپور او د بهار او هر چې متعلق د دوي دي په قید او په ضبط راوړے بوه. پس له هغه بل فکر بویه. په دا قرارداد ئې لښکر په طرف د اودهـ روان کړ. اول سلطان جلال الدین په سر د سعید خان خوي د مبارک خان چې حاکم د اودهـ وهٔ ورغے دهٔ تاب د مقاومت او د مقابلې په ځان کښې ونهٔ لیدهٔ په لور د لکهنو ئې تیښته او فرار وکړهٔ او حقیقت او احوال ئې‌و سلطان ابراهیم ته معروض کړ سلطان له اوریدو د دې واقعې وغوښتل چې له چټه لښکره په طریق د دوړ په سر د وررور روان شي اما په صلاح د ارکان دولت ئې دا عزیمت [۸۳] موقوف کړ او اسماعیل خان او حسین خان او محمود خان او دولت خان ورېنه د دهٔ چې د دهٔ په قید کښې وو حکم ئې وفرمایهٔ چې په کوټ د هانسي کښې ئې محبوس او قید کړئ. خصمانه او محافظت تمام ئې په تقدیم راوړئ. نور ئې په تاریخ ځلرویشتم د ذوالحجې پس د جلوس په طرف د جونپور (۱) کوچ وفرمایهٔ او کوچ په کوچ په‌منزل د بهو ګاؤن راغے او له هغه نه ئې په لور د قنوج قصد مصمم کړ په میان د لارې خبر وررورسید چې اعظم همایون له سلطان جلال الدین جدا شهٔ. د فتح خان سره چې ځوے د دهٔ وهٔ په‌مشرف د ملازمت راځي. سلطان له دغه زیري ډیر خوشحال او خورم شهٔ. هرګاه چې اعظم همایون نژدې وررسید سلطان واړهٔ لوي امراګان په طریق د استقبال و مخې ته ور روان کړهٔ. هرګاه چې په شرف د ملازمت مشرف شهٔ په اس او په هاتي او په مرصع توري سرفراز کړ‌په میان د دې حال د ځنو زمینداراڼو د جوتولي (۲) له توابع د پرګنې د کول چې له جمله مواسانو او تمردانو وو له عمر خانه چې ځوے د سکندر خان سوړ وهٔ جنګ وکړ. په شرف د شهادت ئې مشرف کړ ملک قاسم حاکم د سنبل په سر د متمردانو مذکورو روان شهٔ په جزا او سزا ئې ورسول او په قنوج کښې په شرف د ملازمت مشرف شهٔ او اکثر امرا د جونپور په مثل د سعید خان (۳) او شیخ زاده چې فرملي وهٔ له جلال خانه روګردان شول او مشرف په خدمت د سلطان شول في الجمله جمعیت د خاطر لاس ورکړ. پس له ځو ورځو اعظم همایون لودي او اعظم همایون سرواني او نصیر خان لوحاني لې له کماله تقویته او له ډیزه لښکره په سر د شهزاده جلال خان چې په کالپي کښې وهٔ تعین کړ. پخوا تر هغه چې دا امراګان و کالپي ته رسیدل شهزاده جلال خان، نعمت خاتون او اهل و عیال او فرزندان د قطب خان لودي او عماد الملک او ملک بدرالدین جلواني او متعلقان د خپل حرم محترم‌ئې په قلعه کښې د کالپي پریښول او له دیرش زرو سورو او له ډیرو هاتیانو سره متوجه د اګره شهٔ. چې کهٔ لاس ئې بر شي اګره راونیسي او فتنه په دغه ملک کښې برپا کا او خلل واچوي. امراګان و کالپي

ته راغلل او کوټ ئې محاصره کړ او شو ورځې ئې د توپو او ټوپکو ګرزا وه. اخر الامر عاجز شول او قلعه ئې ترې راونيوه او غنيمت ډير په لاس د سلطان ابراهيم د سپاه کښيوت. سلطان له اوريدو د جلال خان د تلو په طرف د اګرې ملک آدم چې کاکړ وۀ له نورو امراګانو سره په ډير تلوار په محافظت د اګرې د کوټ په طريق د دوړ روان کړ ملک آدم کاکړ داخل په اګره شۀ او په مجرد دۀ د رسيدو جلال خان هم ورپسې وررورسيد وې غوښتل چې ښهر تاراج او قلعه په خپل تسخير کا. ليکن ملک آدم کاکړ جلال خان ته خوږې خبرې او ښۀ حکايتونه چې موافق د دۀ د طبعې او د مزاج وو په ميان راوړ. ښهر ئې د اګرې له تاراجه خلاص کړ پس له شو ورځو بهادر خان لوحاني او ملک اسماعيل جلواني او کبير خان لودي په کومک او په خدمت او نګهداشت [۷۴] د اګرې وررورسيدل او پس له هغه ئې جلال خان ته ووئيل چې کۀ هوا د بادشاهي او چتر عالم ګير او کوکبه او نوبت او نغاره او نښان او نور اسباب د سلطنت ترک او برطرف کړے او په طريق د امراګانو روزګار او سلوک د وړاندې کړے تقصير به دې تا له سلطان ابراهيم وغواړو او محال د کالپي به په دستور سابق دې تا په جاګير کښې ورکړو. هرګاه چې شهزاده جلال خان ته قابليت او استعداد د سلطنت نۀ وۀ په شرائط مذکور راضي شۀ. ملک آدم کاکړ واړه اسباب او آلات د سلطنت له جلال خانه واخستل. بيت :

دلا تا بزرگی نیاری بدست — بجائے بزرگان نہ باید نشست

او هم په دا باب حافظ شيرازي وائي بيت :

تکیہ بر جائے بزرگان نتوان زد بخلاف — مگر اسباب بزرگی ہمہ آمادہ کنی (۱)

ملک آدم واړه اسباب د جلال خان واخست او په ملازمت ئې د سلطان چې له قنوجه تير او اټاوې ته راغلے وۀ راوړ او په نظر مبارک ئې تير کړ او حقيقت ئې ورته معروض کړ. سلطان له ډيره تکبره او په غرور د سپاه او د ځواني دا صلحه قبوله نۀ کړه او په خپل نفس نفيس په رفع او په دفع ئې د جلال خان نهضت وفرمايۀ. شهزاده مذکور له اوريدو د دې خبر محنت الر و راجا ته ئې د ګواليرپناه يوړه. سلطان ابراهيم په اګره استقامت ونيوۀ او په بندوبست د هغو کارونو چې له جلال خانه ئې خلل او زلزل (۲) مونده وۀ مشغول شۀ. او امراګان چې مخالف وو موافق او مطيع ئې کړۀ او امورو د بادشاهي استحکام بيامونده او هيبت خان ګرګ انداز او دولت خان لودي په محافظت د دهلي او شيخ زاده منجهو ئې په سرداری د چنديرې او په خدمت د پيشوايي.د سلطان محمد نمسي د سلطان ناصرالدين چې د مالوې او خلجي وۀ تعين کړۀ او خود په جمعيت تمام په (سير و شکار مشغول(۳)) او په مهمات مالي او ملکي

سرگرم او متوجه شۀ. او میان بهوا چې وزیر اعظم د سلطان سکندر او په فراست او دانایی کښې بې نظیر وۀ په یو سبب د ناراض مندی او بل له ضعفه د قوایٔ بشري په حکومت او بندوبست د ملک چې پرې مامور وۀ کماحقه ترې په وجود او په تقدیم رانغے او په استرضا د سلطان چندان مائل نۀ وۀ. په دا سبب سلطان ترې وجاروت او رفته رفته کار په هسې حد ورسد چې سلطان میان بهوا په قید کړ او په ملک آدم کاکړ ئې وسپارۀ او خدمت ئې د دارالعدالت چې متعلق او مفوض د میان بهوا وۀ و فرزند ته ئې د میان بهوا تسلیم کړ او منصب او جوګیر ئې د پدر هم ورته عنایت او ارزاني کړ بیت:

ارسطو تر افلاطون بنۀ وۀ سکندر ته   په جهان کښې هرٌ شوک مینه په خپل کول کا[۴]

میان بهوا پس له څو ورځو په زندان کښې ځان و حق ته تسلیم کړۀ په دا ورځو کښې په خاصر د سلطان ابراهیم تیر شول چې مدام بهلول او سلطان سکندر داعیه او خواهش د تسخیر د ګوالیر د قلعه درلۀ او څو ځله ئې لښکر پرې متوجه کړ لیکن فتح میسر نۀ شوه.

[۷۵] اوس کۀ اقبال یاوري او بخت مددګاري وکا تسخیر د ګوالیر میسر شي روح به د تیرو بزرګانو له ما خوشنود شي او کفره او فجره به له مرکز د ممالک محو او منعدم (۱) شي. په دا نیک نیت ئې اعظم همایون سرواني له دیرشو زرو سورو او له پنځوسو (۲) هاتیانو او له نورې عملې او فعلې سره په تسخیر د ګوالیر تعین کړ. هرګاه چې اعظم همایون په نواحي د ګوالیر راغے جلال خان قلعه پریښوه او په دیار مالوې و سلطان محمود خلجي ته ورغے او اعظم همایون قلعه د ګوالیر محاصره کړه. اتفاقاً په دا میان کښې راجا د ګوالیر چې په شجاعت و سخاوت سر دفتر د هندوستان د راجګانو وۀ وفات شۀ. وائي چې راجه مان اګر چې په ظاهر سلوک کښې د هندوانو وۀ اما په باطن په شرف د اسلام مشرف شوے وۀ. په یمن د ربښتیني نیت هیڅ یوۀ بادشاه په دۀ لاس د غلبې او د تسلط موندلے نۀ وۀ او له واړه خلق ئې دۀ د مقاومت واهۀ:

راستی آور کہ شوی رستگار   راستی از تو ظفر از کردگار (۳)

او په ایام د دۀ د حیات هیڅا له سلطانانو اراده د ګوالیر د تسخیر نۀ کړه. هرګاه چې سلطان ابراهیم اعظم همایون رخصت کړ راغے قلعه ئې محاصره کړه مردانه ځوانان په اوله ورځ تر درواړې د ارک چې مشهوره په بادل ګړ دۀ(۴) ورسیدل او ډیر په توپ او په توپکو په درجه د شهادت ورسیدل او غشکے د روئین چې په نروازه کښې ئې ودرولے وۀ او هندوانو ئې پرسنش کوۀ پښتنو په زور او په ضرب د تورو له کافرانو راونیو او په ملازمت ئې د سلطان راستوۀ سلطان ډیر خورم او خوشحال شۀ وې فرمائیل چې دا غشکے په دروازه د دهلي چې په

طرف د بغداد ده استاده ئې کړئ. څو سلطنت د سلطان قائم وۀ. پس له هغه په حکم د سلطان هغه غـځـکے ئې ويلې کړ او ګرېالونه ئې ترې ساز کړۀ. القصه سلطان ابراهيم په دا وخت په قـديـم امـراګـانـو چـې د سـلطان سکندر وو بد مظنه شۀ او اکثر لوے خوانين ئې په قيد کړۀ او شهـزاده جـلال خـان چـې تاب د سلطان ابراهيم رانۀ وړ له ګواليره روان شۀ و سلطان محمود خلجي ته چې په مالوې کښې وۀ راغے ليکن سلوک ئې يو د بله ونۀ شۀ په تيښته و ولايت ته د کتنکه(۵) متوجه شۀ. په لارې په لاس د ګونډانو د خلقو کښېوت هغه جماعت شهزاده په قيد کړ او از راه خوش آمد ئې په ملازمت د سلطان ابراهيم روان کړ. سلطان حکم وفرمايۀ چې په کوټ کښـې ئـې د هـانسـي له نورو ورونو سره محبوس کړئ. اما بنا برصواب بعضې دولت خواهانو په لارې شربت د شهادت ورڅښناوۀ. عفا عنه. مثنوي:

خسروان از پئے یک روزہ حیات فانی	خون صد سالہ برادر بہ تظلم ریزند
؟ اقبال بفرق خود از اکنون بنهند	خاک او بار بفرق دگران دریزند
این جہانست کہ البتہ فنا خواہد شد	خنک آن قوم کہ باخلق خدا نستیزند

هـرګـاه چـې طبيـعـت د سـلـطـان لـه امـراګانو اوښتے وۀ او اعظم همايون سرواني چې له لويو امـراګانو او صاحب د نښان او نغارې وۀ او ديرش زره سوارۀ ئې په رکاب کښې وو او قلعه ئې د ګـواليـر مـحاصره کړې وه او کار ئې د کافرانو په شدت رسولے وۀ.[۱۷۶] بلکه زر وه چې قـلعه ئې اخستے وے اګرې ته ئې طلب کړۀ په مجرد د ورتلو ئې په قيد کړ چې دا خبر و ځوې تـه د اعـظـم هـمـايـون چې اسلام خان نوميدۀ او جاګير د کړه مانک پور(۱) او نـواحي د هغه طـرف د ده وه ور ورسيـدۀ سـر ئې د بغي هسک او شورش ئې [۱۸۰] برپا کړ او واړه مال او متـاع ئې د پلار په خپل تصرف کړ. سلطان ابراهيم چې دا خبر واوريد احمد خان ئې په ايالت د هـغـه خـانـې تـعـين کړ. احمد خان روان شۀ. هرګاه چې مقابله شول، عظيم جنګ واقع شۀ لـيـکـن احـمـد خـان شـکست بياموند. [۱۸] او له قيده د اعظم همايون او بې ګناه ترل د ميان بهـوا او لـه مرګه د جلال خان ويرې او ترس په خاطر د واړو امراګانو ځائے نيولے وۀ که اعظم هـمـايـون او سعيـد خـان لـودي چې عظيم امراګان وو او لکهنو او نواحي د هغه طرف ئې په جـاګيـر کښـې وو پـه سـبـب د وهـم ئـې فـرار وکړ و اسلام خان ته چې ځوے د اعظم همايون سـروانـي وۀ راغـلـل او يو د بله متفق شول او سعي په بغي او په فتنه کښې ئې وکړه. سلطان له استـمـاع د دې مـقدمې احمد خان لودي ورور د اعظم همايون لودي (۱) او فرزندان د ملک حسيـن فـرمـلـي او شيخ زاده محمود فرملي او علي خان او خان خانان او مسند عالي بهکارې خـان فرملي (۲) او دلاور خـان سـارنـګـخـانـي او قطب خان ځوے د غازي خان بلوڅي (۳) او

بهيکن خان لوحاني (۴) او سکندر خان ځوى د ملک آدم کاکړ او نور عزيزان غير ذلک ئې
په سر د اسلام خان او جماعه د مخالفينو تعين کړهٔ. هر ګاه چې دا امراګان په سرحد د
بانګړمو (۵) وورورسيدهٔ اقبال خان خاص خيل د اعظم همايون لودي له پنځو زرو سوورو او له
څو ستو هاتيانو نه پخوني پاڅيدهٔ او په بادشاهي لښکر راغے ډير خلق مړهٔ او مجروح شول.
(۶) و ښهٔ زور ئې ورکړ. وجارووت دا خبر و سلطان ته ورسيد لا ئې شدت او قهر غالب شهٔ
فرمان ئې وکښهٔ چې څوک دا ګروه د بغي او د فساد په سزا ونهٔ رسي او هغه ولايت له تصرفه
د دوي خلاص نهٔ کړي هومره له زُمرے د مردودانو او نامنظورانو شمارلي يئ او نور جماعت
ئې هم په هغه لښکر پسې په طريق د کمک تعين کړ او جمعيت د باغيانو قريب تر څلويښتو
زروسوورو او پونصو مستو هاتيانو رسيدلے وهٔ او لښکر د بادشاه هم په مقدار د پنځوسو زرو
سورو جمع شوے وهٔ. هر ګاه چې په اتفاق د مقابلې طرفين نژدې شو چې لاس په جنګ
پرانزي شيخ راجو بخاري چې مقتدا د هغه عصر وهٔ تر ميان راغے طرفين ئې له جنګ منع
کړ او دواړه لوريه ئې نصيحت سودمند وفرمايهٔ او اقرار په دا وشهٔ چې کهٔ سلطان ابراهيم
اعظم همايون له قيده خلاص کا مونږ واړه امراګان به له اولکے د سلطان ابراهيم روان او
ملک ته به د بل بادشاه ورشو. په دا قول اقرار دواړه لښکره يو د بله وجاروتل او خپلو منازلو
ته راغلل. شيخ راجو بخاري په صلاح د احمد خان چې سردار د بادشاهي لښکر وهٔ عرض
داشت ئې په درګاه د بادشاه معروض کړ سلطان په مجرد د عرضداشت د مضمون په قهر شهٔ
او ملتمس په معرض د قبول او په موقف د اجابت رانغے او په دريا خان لوحاني حاکم د بهار
فرمان عاليشان صادر شهٔ چې په اتفاق د نصير خان لوحاني او شيخ زاده فرملي په سر د
فساديانو روان شه او دا جماعت بد انديش نيست و نابود کړه او هغه جماعت هم په واسطه د
خودي له تقويته د سپاه له اقباله د بادشاه هراسان او ترسان نهٔ شهٔ په جنګ ئې قدم د مقاومت
مستحکم کړ او طرفين صفونه د جنګ وړاندې وروستو يو څنګ بل څنګ ترتيب شول او
مړنې ځوانان په جنګ او په جدل په هسې رنګ راغلل چې قيامت ئې [۸۲] له انبوهې ولاړ
شهٔ او طرفين بيشماره خلق ومړ او رودونه د وينو په ميدان روان شول او دا قسم عظيم جنګ
پخوا کم په هندوستان کښې واقع شوے وهٔ. (۱) اومړيو پيرانو ونيل (۲) چې دا رنګ جنګ
دې مونږ په يادو شوے نهٔ دے چې ورور له وروره او پلار د خويه (۳) له شرمه په تمام جنګ او
جلادت مستقيم شول. (۴) او غشي ليندې ئې له لاسه پريښوے. په تورو په جمدرو راغلل
په دغه جنګ کښې لس زره ځوانان پښتانهٔ جانبين ومړل. هر ګاه چې عاقبت شيوه د نمک
حرامى او د کفران نعمت ثمره بده لري. (۵) په يو ځل باد د فتح په لښکر د بادشاه والوت

شکست په لښکرو د مخالفو پریوت او اسلام خان چې سردار د مخالفانو وۀ په جدل کښې په قتل ورسید او سعید خان لودي په لاس د دریا خان لوحاني (٦) د نوکرانو گرفتار شۀ. هرگاه چې دا خبر و سلطان ته ورسید غرور او تکبر ئې لا زیاتي شۀ. په دا میان کښې میان بهوا اواعظم همایون چې په زندان کښې وو په امر د سلطان په قید کښې مړۀ شول او په ظاهر ئې اواز ولاړ کړ چې دوي له شدته د بیماری او له کثرته د رنځ وفات شول. دریا خان لوحاني (٧) حاکم د بهار او سپه سالار چې د دې لښکر ظفر (٨) اثر وۀ متوهم شۀ او په خاطر ئې تیر شول چې دا رنگ فتح عظیم په ظهور راغله هرگاه چې په ملازمت د سلطان مشرف شم دا ورته معلوم دي چې صاحب تردد او تالاش دے ما به هم مړ کا ځکه دریا خان لوحاني محمد خان سور او اکثر امراگان ئې له ځانه متفق او منظم کړۀ. په طرف د خپل جاگیر و بهار ته روان شۀ او سکه او خطبه ئې په خپل نام ترتیب کړه. او مخاطب په محمد شاه شۀ. تر هسې حده چې صاحب د اتیا زره سورو شۀ او خان جهان لودي (٩) او حسن خان فرملي او بعضې امراگانو هراس او ترس بیاموند سر ئې له اطاعته د سلطان واخست او خپل خپل جاگیر ته چې جونپور او نازي پور او د هغه نواحي وو روان شول او حسین خان فرملي چې حاکم د چندیري وۀ په موجب د سلطان د اشارت په لاس د اوباشو شیخ زادگانو د چندیري(١٠) مقتول شۀ. دا واقعه هم سبب د زیاتي د وحشت او نفرت د اکثر امراگانو شوه. په لږو ورځو کښې دریا خان لوحاني فوت شۀ بهادر خان ځوے د دۀ د پلار په ځائے قائم مقام شۀ او سکه او خطبه ئې په خپله نامه کړه. او مخاطب په محمد شاه شۀ. (١١) او لک سوارۀ ورسره جمع شول. او امراگان د بهار او جونپور ئې له ځانه متفق کړۀ او هم په دې ورځو کښې نصیر خان لوحاني د سلطان له سپاهه روگردان شۀ و محمد شاه ته ولاړ شۀ. سلطان ابراهیم وغوښتل چې افواج قاهره په دفع د فتنې او د فساد د بهادر خان تعین کا. په دا میان کښې ځوے د دولت خان لودي چې حاکم د لاهور وۀ له خپله فراسته او له روشه د سلطان ورمعلوم شوۀ چې په مجرد د ملازمت به په قید د سلطان گرفتار شم. دۀ هم تیښته وکړه او پلار ته روان شۀ. (١٢) حقیقت ئې د سلطان د بدمزاجې او ترس او هراس د نورو امراگانو یک بیک بیان کړ. دولت خان ولیدل چې له قهره د سلطان ابراهیم [٨٣] په هیڅ وجه مخلصي نشته. او تاب د مقاومت ورته میسر نۀ وۀ. له غازي خان لودي او له نورو امراگانو د پنجاب متفق او له سلطان ابراهیمه روگردان شۀ او عرضداشتونه ئې و بابر بادشاه ته چې په کابل کښې وۀ مشتمل په طلب د قدوم سعادت لزوم په لاس د عالم خان لودي روان کړۀ چې تشریف وفرمائي او هندوستان په خپل تسخیر کا. او بابر بادشاه چې په حقیقت د ابراهیم او تفرقه د امرایانو واقف شۀ (١)

وپـوهيـد چـې امـرايـان او سـلطان ابراهيم سره مخالف شول او اعتبار ئې له ميانه لاړ په غره د ربيع الاول پـه تسخير د هندوستان ئې كوچ وفرمايهٔ. او عالم خان مذكور له فوځونو د مغل و سيـالـكـوټ تـه راغـے. قـلـعـه ئـې په خپل تصرف كړه او له هغه نه عالم خان او دولت خان له امـراگانو د بابر بادشاه و لاهور ته راغلل او امراگانو وته ئې د بابر ووئيل چې تاسو دې مونږ په كمک راغلي يئ. هم دې مونږ سره شامل اوسئ چې ملكري په لاس واخلو او سلطان ابراهيم مغلوب كړو. پخوا د بابر تر راتلو تخت د ډيلي په خپل تصرف كړو. امراگانو د مغل دا خبره قبـولـه نـهٔ كـړه. عـالـم خـان لـه دوي جـدا شـهٔ لـه څلويښتو زرو سوررو سره راغـے او دهلي ئې محاصره كړهٔ. هر گاه چې دا خبر و سلطان ابراهيم ته په دارالخلافت اگره كښې ورسيد له اتيا زرو سـورو چې په ركاب كښې د سلطان حاضر وو له اگرې په طريق د دوړ مخ په دهلي روان شـهٔ. هر گاه چې مفاصله د شپږو كروهونو په ميان راغله مقام شهٔ خپل لښكر ئې جوړ كړ او په لښـكـر ئـې د سـلطان ابراهيم د پنځهٔ شپږ زرو سوررو سره له خپله لښكره په يو طرف شهٔ او په كـوښه قائم شهٔ. هر گاه چې صباح شهٔ او ستر گو وليدل خبر ورورسيد چې عالم خان له تيرصو سـوررو سـره تـنـهـا ولاړ وهٔ او نـور تـمـام لښـكـر په لوټ مشغول دے. سلطان ابراهيم فرصت غـنيمت وشمارهٔ علي الصباح په فوځ د عالم خان راغـے عالم خان تاب رانهٔ وړ شا ئې ورته كړه او مـخ ئـې پـه دوآبـې ونيـو او اكثر ښهٔ ځـوانان د دهٔ په قتل ورسيدل او باقي تار په تار شول. سـلـطـان ابـراهـيـم پـه فتـح او پـه فيـروزى فيروزمند شهٔ او په دا وخت بابر بادشاه و لاهور ته رارسيـدلے وهٔ چې دولت خان او غازي خان قول او اقرار مات كړ او په طرف د بلوټ د قلعې (٢) لاړل. مير خليفه (٣) چې عظيم امرا او وزير د بابر بادشاه وهٔ ور روان شهٔ او تسلي د خاطر ئې د عالم خان وكړه او په ملازمت ئې د بابر بادشاه مشرف كړ. او دلاور خان په لاهور كښې سـعـادت د ملازمت حاصل كړ. بابر پس له تسخيره د لاهور په لور د سنام (٤) او سامانه روان شـهٔ او نـور ئې تردي بيگ خان په طريق د شوكي وړاندې تعين كړ او سلطان ابراهيم هم داؤد خـان چـې لـوے امـيـر وهٔ پـه مقابلې د تردي بيگ خان له لسو زرو سوررو او صل مستو هاتيانو سره روان كړ. هر گاه چې تردي بيگ خان له راتلو د داؤد خبر شهٔ خپل فوځ ئې جوړ كړ او په داؤد خـان ئې شبخون وكړ او داؤد خان تاب رانهٔ وړ. شكست ئې بياموند. په هر طرف [٨٤] تـار پـه تـار شـول او داؤد خـان لـه اويـا تـنـو سـره دسـتـگير شهٔ. هر گاه چې خبر د داؤد خان د شكست سلطان ابراهيم ته ورسيد اصلاً او مطلقاً واهمه ئې په خاطر دريا مقاطر تيره نهٔ شوه او پـه همت بادشاهانه ئې خپل لښكر اراسته كړ. يو لک (١) سپاه او پنځهٔ زره هاتيان او د پياده ؤ حساب نهٔ (٢) وهٔ متـوجه په خصومت او په جنگ او په جدل شهٔ او په مقام د پاني پت (٣) د

قصبې طرفين مقابل شول. سلطان ابراهيم صفونه د جنګ وړاندې وروستو يو څنګ بل څنګ چې ميمنه او ميسره او مقدمه او ساقه ورته واثي ترتيب کړهٔ او متوجه د جنګ شهٔ. عظيم جنګ او بې شماره جدل واقع شهٔ او جانبين عباد الله په قتل ورسيدهٔ. په اووم (۴) تاريخ د رجب المرجب ورځ يک شنبه (۵) سن انصو ديرش سلطان ابراهيم په شرف د شهادت مشرف شهٔ او بابر بادشاه په فتح او فيرزوی فيرزومند شهٔ. في الجمله پس له اوياؤ (۶) کالو نو خلافت د هندوستان له سلسله د لوديو بيرون شهٔ. او په خاندان د مغلو مقرر او مسلم شهٔ او سلطنت د سلطان ابراهيم اتهٔ کاله او اتهٔ مياشتې او اتلس ورځې مقرر (۷) وهٔ. او په مغرب روی قصبه کښې ئې د پاني پت مدفون کړ او خير خيرات او لنګر پسې ډېر وشهٔ. (۷ ا) هرګاه چې اراده د حق تعالیٰ وشوه چې سلطنت د هندوستان له لوديو معزول او په چغتيو مقرر کا او پښتانهٔ له دولته د هندوستان مايوس او محروم (۸) او مغل په دولت د هندوستان د سلطنت سرفراز او سربلند کا او سلطان ابراهيم ته ئې طبيعت د سباع ورکړ لکه پخوا دا مذکور شول او متابعو ته ئې عقل غلامانه ورکړ (۹) کهٔ صل اميران ئې په يوه ورځ قتل کړې وې بيکاه توره به ئې ولې راوسته صل به نور پيدا شوي وو. پخوا په ديباچه کښې دا بيان شوې دې سرداران د سياست دپاره ډېر ډېر څهٔ وکا او متابع دا هسې نهٔ کا دولت و هغو ته خدائے تعالیٰ قائم ورکوي چې عقل د سردار متابع د دواړو په څائے لري د سردار شفقت په خلق الله باندې شفت څهٔ دې عدل او مروت او انصاف له نيکانو سره او سعي او سياست له بدانو سره کهٔ د په سردار کښې وي حق د متابعت په متابعانو کښې بويه چې متابع د بادشاهانو ډېر عالم و هر چې مصاحبان وي بويه چې شب و روز په خپلې راستی کښې وي. هر چې د بادش دوست د دوي دوست هر څائے چې د تهمت ناکی وي (۱۰) څنې احتراز بويه هر چې د دولت خواهی حرف وي ظاهر باطن دې له دوسته له دښمنه سره نهٔ بويه چې طرفين وسواس بادشاه او د مصاحبانو له ديو چارو پيدا کيږي، هر چې سپاه وي بې له خپله بادشاهه دې له نو چا سره اشنا نهٔ وي او رعيت دې ورته په دعا وي. يو څو بيته له هغو ابياتو پاتو شويو چې ديباچه کښې کښلي دي. ابيات:

کـه خپل تل و بلـه خپل وي	چې پـرې بـاسي حـد دې بل وي
چې سـار سـره ويـزار شي	درست تـار وبلـه خوار شي
د سنـي سـره نفـاق دې	د هتـي اتـفـاق دې
چې خپل کور (۸۵) سره يکدل وي	هـر مـراد بـه ئې حـاصل وي
چې په کور کښې ئې خلل وي	زر د کـانـي د تـلـل وي

بو ورک بنـهٔ کـهٔ ډیر ورک بنهٔ دي　　　　یـو سپک بنـهٔ کهٔ ډیر سپک بنهٔ دي
کـــهٔ یــو روز حـلالـــه ویـنـــه　　　　د ســـردار چـــار ده مهیـــنـــه
ـــهٔ آخــنـــدئ مـــهٔ ئــې خــوانـــئ　　　　د ســـردار حـــکـــم خـــود وانـــئ

او ګـهٔ نـه سـلـطنت د هندوستان له لودیو اخستل ممکن نهٔ وو او له تعقل او له اندیښنې دا کار خارج وهٔ. الملك لله والحکم لله مصلح الدین شیرازي فرمائي بیت:

قضا کشتی آنجا که خواهد　　　　وگر ناخدا جامه برتن

دفتر دې دویم په بیان د خلافت د شیر شاه او اسلام شاه

او احـوال د عـدل او بـعـضـې نورې مقدمې چې په دا دور کښې په وقوع راغلې دي.

پس له حمده د احد او له صلوٰته د محمد ﷺ (۱) راویـانو د اخبار او مؤرخان صاحب اقتدار او اعتبار دا رنګ کښلي دي چې هرګاه سلطان بهلول په تخت د دهلي کښیناست ممالک د هـنـوسـتـان مـلـوک طـوائف وهٔ یعنې څائے په څائے بادشاهي وے او په هر ښهر کښې خطبه عـلیحـده وه خـصـوص سلطان حسین بادشاه د جونپور له سلطان بهلول لودي سره په مقام د سـرکشـي او عناد وهٔ او په واړو ئې تقدم او تفوق درلهٔ. راغـے ښهر ئې د دهلي محاصره کړ او پـه دا ورخـو کـښـې سلطان بهلول په تسخیر د ملتان لاړ وهٔ. هرګاه چې په مضمون د دې اګاه شـهٔ ږې فـرمائیل چې سلطنت د هندوستان په هغه چا ښائي چې صاحب قوم او قبیله وي. او نن ورځ پـه سـلـطـانـانـو کـښـې د هند زهٔ په قبیله او په لښکر ممتاز یم چې تمام پښتانهٔ عزیزان او خویښان دې ما دي. بیت:

یـا د لیـچـو زور پـکـار دے یـا د زرو　　　　خوار هغه شهٔ چې په دواړو شهٔ کمزورے

او بـه خپل ملک کښې عمر په عسرت او په فقر تیروي غواړم چې دوي له وطنه راطلب کړم او مـنـصـب او جاګیر په هندوستان کښې ورکړم چې له تنګی او تنګ خرخی خلاص شي او زهٔ بـه هـم بـه قـوت او بـه مـدد د دوي په خپلو غلیمانو غالب دست شم واړو په فکر د بهلول آفـرین ووې کـه فـرمـان پـه نـامـه د هـر یوهٔ چې صاحب قوم او قبیله وهٔ روان کړ او بې‌شماره پښتانـهٔ لـه کوهستان د روه په ملازمت د سلطان راغلل او په جمعیت او تقویت ئې بهلول هم قـوت او استحکام بیاموند. سلطان حسین تاب د مقاومت رانهٔ وړ و جونپور ته لاړ شهٔ او ملک د دهلي پـه تـصـرف کـښـي د سـلـطـان بهـلـول پاتو شهٔ پس له هغه ځنې پښتانهٔ په استوګې د هـنـدوستـان راضـي شـول او په انعام او په احسان د بادشاه ممنون او خورم شول. او هغو چې ارادهٔ د وطن وکړه په ډیر انعام او په ډیر اکرام ئې سرفراز او سرخروئ کړهٔ او په تمام رفاهیت او جـمـعـیـت و وطن ته راغلل. في الجمله په حق د هغو چې په خدمت د سلطان په هندوستان

کبنې پاتو شول په هسې شان ئې پرداخت او خصمانه او سرفرازي وکړه چې د نورو هم هوس د هندوستان د راتلو وشۀ او په لږ مدت تمام هندوستان په پښتنو ډک شۀ. په دا وخت میاں ابراهیم [۸۲] سور نیکۀ د شیر شاه و هندوستان ته له خپله زویه چې میا ں حسن خان وۀ په ملازمت د میاں متهي خان چې پرګنه د هرانه د دۀ په جاګیر وه، راغے او په پرګنه کبنې ئې د جونپور سکونت ونیو (۱) هم په دغه ورځو او په زمانه د سلطان بهلول شیر شاه متولد شۀ. (۲) او په نامه د فرید موسوم شۀ. پس له څو کالو میا ں ابراهیم د متهي خانه جدا شۀ او جمال خان او سارنګ خان ته راغے خلویښت سوارۀ ئې په رکاب کبنې ورکړل او جاګیر ئې په پرګنه کبنې د نارنول (۳) مقرر شۀ او په سبب د تند طبعی او ترش رویی حسن خان پلار د شیر شاه له میاں ابراهیمه جدا شۀ او په خدمت د عمر خان سرواني چې امرا عظیم الشان د بهلول وۀ مشرف شۀ او کلے د شاه آباد (۴) چې داخل په سرکار د (سرهند) (۱۴) وۀ په جاګیر کبنې ئې د دۀ مقرر کړۀ میاں حسن خان وغوښتل چې فرید هم داخل په سلک د ملازمت شي. عمر خان ووې چې دے لا هنوز کودک دے هغه زمکه چې بلهو نومیږي او متعلقه د نهاولي ده په جاګیر دې د فرید مسلم وي، پس له څو ورځو خبر ورسیدۀ چې میاں ابراهیم نارنول کبنې خان و حق ته تسلیم کړ. میاں حسن خان په خدمت د عمر خان عرض وکړ چې پلار مې فوت شۀ کۀ رخصت عنایت شي چې ورشم او د پسمانده ؤ دلجوئي وکړم بیا به په شرف د ملازمت مبارک مباهي شم. عمر خان ووئیل خاطر جمع کړه له جلال خانا به جاګیر دې تا د پلار و تا ته درکړم. پس له څو ورځو میاں حسن خان په ملازمت د جمال خان معزز شۀ جاګیر ئې د حسن خان د پلار په حسن خان مقرر کړ میان حسن په هسې رنګ خدمت د میان جمال خان په تقدیم راوړ چې ډیر ترې رضا مند شۀ او خوشنود هم. په دا میان کبنې سلطان بهلول ودیعت د حیات و حق ته وسپارۀ. نوبت د سلطنت په سلطان سکندر چې خوے د بهلول وۀ، راغے او جونپور ئې له خپله وروره چې باربک شاه وۀ واخست او حکومت ئې د جونپور په جمال خان مقرر کړ او امر ئې ورته وکړو چې دولس زره سوارۀ دې جدید یعنې نوي تازه وساتي. جمال خان علوفه د پونصو سورو و میان حسن ته مرحمت کړه او په جاګیر ئې پرګنه د سهسرام (۵) ورکړه او د میان حسن خان اتۀ فرزندان وو فرید او نظام له نسه د پښتنې وو او سلیمان او احمد او مداد درې واړه له یوې موره وو. او بل ښادي خان او غیره له نسه د سورتې وو. او محبت د حسن خان له موره د سلیمان ډیر وۀ. او له موره ئې د فرید چندان اختلاط نۀ وۀ. هم دا رنګ ئې په وخت د جاګیر د قسمت بخره د سلیمان ئې له فریده په تفاوت وکړه. هرګاه چې خاطر د فرید له پلاره آزرده شۀ په خدمت د جمال خان و

جـونپـر تـه لاړ شـۀ. میان حسن په خدمت د جمال خان التماس وکړ چې فرید له ما نه آزرده لاړ دی. امید دے چې تاسو ئې دلاسا کړئ او بیا ئې و ماته راستوئ چې څۀ علم او قلم زده کا. جمال حان فرید وبالۀ او اظهار ئې د دې مقدمې ورته وکړ، فرید ډیر چې له بدسلوکی د ورونو آزرده ۀ هیـڅ رنګ په ورتلل د پلار راضي نۀ شۀ او ځواب ئې ورکړ چې ذوق د علم او شوق د تحـصـیـل پـه زړۀ لرم او جونپور په نسبت د سهسرام عظیم ښار دے او کسب د علم پکښې ډیر موجود دے في الجمله کافیه ئې له حواشي د [۸۷] قاضي شهاب الدین چې د دولت آباد ۀ پـه ښـۀ فهم او تفکر لوسته او له کتابونو د فارسی لکه ګلستان او بوستان او سکندر نامه ښۀ واقف ۀ او لـه کتـابـونـو د تـواریـخ او لـه نورو کتابونو چې د سیر وو او په حقیقت د ماضي د بادشـهـانو ډک وو نیک آګاه وۀ او تل ئې په مطالعه کښې درلل (۱) پـس له څو ورځو میان حسـن پـه مـلازمـت د جـمال خان و جونپور ته راغے خپلو عزیزانو په واسطه د کمې مهربانی چې لـ دۀ پـه حـق د فـرید په وجود راغلې وه ملامت ئې کړ اقرار او اتفاق ئې په دا وکړ چې مهـم اړ بـنـدوبسـت د خپـل جاګیر دې په فرید وسپاري او خود دې په ملازمت د میان جلال خـان وسي او فـرید په وخت د رخصت له خپله پلاره قول واخست چې کۀ فرزندان دې تا په سبب د حسـد لـه طـرفـه دې مـا و تـاته ګیله وکا او تا له ما آزار کا علاج د دې څۀ بویه؟ میان حسـن وونیـل چـې جـلـب د اختیار مې په لاس دې تا د کفایت درکړے دے. هر رنګ چې ته پوهیږے هغه په عمل راوړه. فرید و سهسرام ته راغے او په طلب ئې د سپاه او د رعیت و خپل حضـور ته فرمان وکړ چې واړه حاضر شول ورته ئې وونیل چې پلار مې قبض او بسط او تمام سـررشتـه د مـلـک و ماته وسپارله او ماته اوس بائده دي چې په خصمانه د دهقان او د زراعت او سازش (۲) د عـمـارت او د آبـادانـي او غـور د رعیـت د احوال څو مې لاس رسي په تقدیم راورم چې واړه آسـوده او مرفه الحال شي او دا کار به هالۀ صورت ونیسي چې لاس د ظلم او د ستـم لـه ګـریبـانـه د عاجز قطع او کوتاه شي او څو نښان د عدالت په میدان د انصاف بلند نۀ کـړم. سـکـون او اغـمـاض کړونے نۀ یم او ښائي چې بعضې نظر په نسبت او په قرابت وکا په خـاطـر راوړي چې پرسش به د زور او د ستم له مونږ ونشي. بائده دي چې هر څوک دا باطله انـدیښـنـه پـه خـاطـر رانۀ وړي او په یقین دې وپوهیږي چې زۀ به د اقربا او د خپلو عزیزانو په سیـاسـت او عـدالـت د مـلـک کښـې پخوا تر نوره خلق باز پرس او تفحص وکړم چې پند او عبرت د نورو شي. پس له ډیرې مبالغې مخ ته د توجه په طرف د رعیت کړ او وې وئیل چې نن ورځ اختیـار دې تـاسـو پـه لاس کښـې دے کـۀ وایئ زمکه د زراعت په جریب او په کچ کړم موافق د جـریبـونـو جـمع او محصول مقرر کړم او کۀ وایئ ملاحظه د بود او د نابود وکړم او

موافق د سررشتې جمع مقرره کړم. بعضو په جريبو او بعضو په خراج رضا ورکړه خط ئې د قبوليت وکيښ او ور ئې کړ. او هم ئې په هغه مجلس کښې خرڅ د جريبانې او د محصولانې مقرر کړ او له ملکانو او مقدمانو سره ئې قول او اقرار وکړ چې زۀ به په اخر د فصل نيک او بد کم او ستر د مزارعانو و حضور ته طلب کړم. او د جمع خرڅ به ذره ذره فرداً فرداً تحقيق وکړم هر چې نن ورځ ئې قرار بيامونده کۀ يو فلوس يا دام درم زياتې وصول شوے وي مقدم او ملک د هغه کلي به په سزا ورسوم چې مدار د زراعت او د عمارت او د آبادانې وابسته د رعيت دے هر ګاه چې ارباب او مقدم [٨٨] تخمينات بې وجه په رعيت بار کا، دا باعث د خرابي او ويراني د دهقانانو دے او بهتر د عاملانو هغه کس دے چې په حقيقت د خرڅ او د محصول بنۀ واقف شي او روادار نۀ وي چې دام درم تر واجبي په رعيت زيات سرباري شي. پس مخ ئې په طرف د رعيت کړ او وې فرمائيل چې له تاسو هر څوک چې کار او مطلب او داد او فرياد لري بې وسيلې دې راځي او خپل عرض او مهم دې بې وسواسه په عرض رسوي. هر ګاه چې له دې ګفتګويه فارغ شۀ وې فرمائيل چې اوس فکر د هغو سرکښانو او متمردانو چې په ادا کول د واجبي او محصول زورګير دي او رعيت تابع ته تصديع رسوي کړے بويه. په دا باب دې تاسو خاطر ته څۀ رسي. واړو عرض کړۀ چې اکثر سپاه په رکاب کښې د ميان حسن خان دے او دلته چندان جمعيت نشته چې په مهم د سرکښانو او باغيانو سرګرم شي. يو څو ورځې په هر صورت توقف کړے بويه چې ميان حسن خان تشريف وفرمائي. فريد ووئيل زۀ طاقت د دې هومره مذلت نۀ لرم څو مې لاس رسي په سرانجام به د دې مهم سرګرم وم. نور ئې امر وفرمايۀ دوه صوه زينونه ئې تيار کړۀ او رعيت ته ئې ووئيل چې غرض دې ما له دې تردده او تالاشه دا دے چې لاس د متمردانو له تاسو قطع او کوتاه کړم. پس هر يوۀ موافق د استطاعت اسونه عارياً راکړئ او پس له تمام د مهم خپل خپل اس بيارته واخلئ. پس په دا بهانه ئې له هره کليه يو يو دوه دوه اسه واخستل او زينونه ئې پرې باندې کړ نور ئې ځوانانو ته چې مړنې او شجاع او بې علوفې او جاګير وو هغه اسونه ورکړۀ او جزوي څۀ نقدي ئې هم ورکړه او وې وئيل چې دا دې تاسو صابون د خيرنو نمريو دے او تر راتلو به د ميان حسن وجه د خوراک او د پوشاک هم درکوم او لوټ چې له مفسدانو رانيسئ شرکت د غير له تاسو نشته او هر يو چې مردي او مردانګي بنکاره کا جاګير او علوفه به مناسب له کاره بيامومي. سعدي وائي قطعه:

دلاور که بارے تهور نمود — بباید بمقدارش اندر فزود
که بار دگر دل نهد بر هلاک — ز پیکار یاجوج باک

دا قسم جماعت ئې يو دبله وروست او په وخت د قابو ئې په سر د متمردانو وروزغلاوهٔ شو کلې ې د بنکاره مفسدانو (۱) ووهل او مفسدان ئې په قتل ورسول او عيال او اطفال او بنديان ئې مضبوط وساتل او اس او مال ئې د لوټ موافق د خپل اقرار صرف کړهٔ باغيانو ته ئې خواب واستهٔ چې څو مو ارتيني او فرزندان تار په تار پراگنده شوي نهٔ دي بائده دي چې سرکښي او طغيان پرېږدئ او کهٔ هم په دا خصلت مستحکم شئ ارتيني او فرزندان به دې تاسو خرڅ کړم او بها به ئې په عوض د واجبي زرو چې ستاسو په سر مقرر دي واخلم. او هالهٔ به مو سکونت او ابادانی ته پرېږدم بلکې هر ځائے ته چې لاړ شئ او پناه وروړئ بيخ بنياد به مو وکاږم څنو له دې گروه انقياد او اطاعت قبول کړ او معتبر ضامن ئې ورکړ او محصول ئې ادا کړ. خپل اطفل او فرزندان ئې خلاص کړهٔ. او څنو متمردانو په ځنگل استوگه نيولے او غرور او تکبر ئې دوړاندې کړے [۸۹] وهٔ او په قول د نصيحت کړونيو نرم نهٔ شول. اخر فريد ډير لښکر جمع کړ او قصد ئې د دوي د بيخ کنۍ وکړ. او فرمان بردار رعيت ته ئې ووې چې نيمائي په کر پ کيله او نيمائي کمربسته په خدمت حاضر شئ. هرگاه چې نژدو کلي ته د باغيانو ورغے او امر ئې د پريکولو د ځنگل وفرمايهٔ او بنهٔ سوارهٔ ئې په تاخت او په تاراج تعين کړهٔ او حکم ئې ورمايهٔ چې هر چې له دوي مومئ وژنئ ئې او کښت ئې په ښارويو خوروئ او بل څوک له اطرف او جوانب دوي ته چې ورتلل کا مهٔ ئې پرېږدئ او دوي ته هم تلل و بل لور ته مهٔ ورکړئ. سوارهٔ هميشه په تاخت او په تاراج او پياده په پريکول د ځنگل مشغول وو. هر څو چې ځنگل پريکيدهٔ هومره لښکر د فريد وړاندې قدم کښيښي. څو نژدو و کوټ ته د باغيانو ورسيدهٔ. هرگاه متمردانو تدبير او شجاعت او عقل او بلاغت او کياست او فراست او دانائي او حکومت د فريد وليدهٔ ډير په ترس او په هراس شول او په عاجزی او زاری راغلل. فريد ووئيل چې طريقه او سررشته د گوارو د هندوستان دا ده چې اول د حاکم سره جنگ او خرخشه برپا کا کهٔ غالب شي له ادا د مال واجب او د لازمي محصوله لاس ونيسي او کهٔ حاکم غلبه او تسلط پيدا کا چاپلوسي او الحاح ور وړاندې کا او سرگرم په ورکول د خراج او د محصول شي. او په ميان د دې حال منتظر د فرصت وي. اوس دغه گروه و ماته دا معامله وړاندې کړه. بائده دي چې نظر د دوي په مکر او په فريب ونشي پس بله ورځ ئې په مفسدانو او پسر کښانو دوړ وکړ واړه ئې تار په تار پراگنده کړل او عيال او اطفال ئې د دوي په بيعه ورکړل. له ليدو له دې فتحې بيا هيڅ يو سرکښ او متمرد ته قوت د سرکښي او تاب د مخلفت پاتو نهٔ شهٔ او واړه فرمانبردار شول او په ورکولو د خراج او محصول سرگرم او ساعي شول او تمام جاگير له دې تردده په قيد او په ضبط شهٔ او سپاه او رعيت آسوده او

خـورم شـۀ. میان حسن له اوریدو د دې خبر ډیر خوشحال شۀ. نور همیشه بیا په مجلس او
مـحفل کښې ئې ستائش د فرید کولو (۱) او غـېږ د دانایۍ د فرید په اطراف او جوانب ولاړ ش
پـس لـه مدت میان حسن له جمال خانه رخصت واخست او خپل جاګیر ته راغـے تمام لښکـ
او رعیـت ئـې هوا خواه او خیر خواه د فرید ولید. او جاګیر ئې ډیر آبادان او معمور چې پخ
هـغـه رنګ نـۀ وۀ پـه نـظر راغـے او هغه زمکه چې پخوا ضائع افتاده وه په اقبال او په عدالت
فـریـد آبـادانـه او پـه زراعـت ئې ښائسته او سرسبزه ولیده. له لیدو له دې احواله ډیر خورم
خـوشـحال شۀ. او په مور د فرید ډیر مهربان شۀ او په فرید ئې ډیر التفات اغاز کړ او وې ون
چې زۀ پیر شوم (۲) او کـمـاهیه تر عهدې د ملک وتلے نۀ شم تدبیر د کار او بندوبست په
لـري. هرګاه چې دا خبره سلیمان او د سلیمان مور ته ورسیده رګ ئې د غضب او د حسد
حـرکـت راغـے سخن چیني او چغلي ئې اغازه کړه او په بدلولو د میان حسن د خاطر په حق
فـریـد ئـې کـوشـش بـلیغ برپا کړ. لیکن میان حسن غوږ په باطل مذکور د هغو نۀ کاوۀ او و
وئیـل چې فرید دخل په کار دې ما کړے دے جاګیر معمور او رعیت آسوده او محصول یو
لـس شـۀ څـرنګ دې تاسو په [۹۰] غرض آمیزو خبرو خاطر د فرید رنځه کړم چې مطعون
خویـش او د بیګانه شم. اما سلیمان او مور د دۀ په خپل کار مقید وو التماس او امتناع له ح
تیر شۀ او هر چا معلوم کړۀ چې غشي د بهتان په نښانه د مدعا نۀ لګي. پس له دا مور د سلیم
آزردګـي آغازه کړه او ترک ئې د اختلاط ونیو میان حسن پرسش له سببه د دې مقدمې و ک
مـور د سـلیـمـان التماس وکړ چې زۀ کمینه وینځه دې تا وم زۀ دې په خپلې مهرباني سرفرا
کړے وم هم په دا سبب دې تا ارتیني او فرزندانو زۀ په دښمنۍ نیولے یم او اوس بیا کم التفا
او مهـربـانـي فرمائي او فرید واړه مال او ملک او جاګیر خپل وشمارۀ او فرزندان دې ما خ
غـلامـان ګـڼـي او پـه هـغـه وخـت چې تا فرید ته نیابت ورکاوۀ زۀ پوهیدم چې دې به دې ما
فـرزندانو داسې وکا لیږ څۀ مې تاته له دې بابه په عرض رسولې وو تا په خواب کښې راته وو
چې فـرزندان دې تا اطفال او خورد سال دې له عهدې او له کاره د ملک وتوني نۀ دي هر
چې لـوے او قابل د رشد شي، حکومت به د جاګیر و دوی ته تفویض کړم. اوس فرزندان د
ما قابل د رشد او لوئي دي. (۱) امـا دې تا له بې اعتنایي او کم التفاتي ضائع پاتو دي. او فر
صاحب سامان او سرانجام شۀ. دې تا د تربیت او عنایت محتاج نۀ دے. (۲) خواه له تا خوا
تا جدا وي. (۳) دے بـه خپـل پیټے له اوبۀ پورې کا. اما کار دې ما د فرزندانو ډیر مشکل د
چې مـحتـاج او بې سامانه او سرانجامه دي او تۀ مطلقاً په کار د دوي نظر د التفات نۀ فرمائ
غـواړم چې خـان او دوي هـلاک کړم چې له دې ننګه او عاره خلاصه شم. لاچار میان حس

رعات د دې احوال وكړ چې فريد به تغير او معزول كړم. مور د سليمان ووې چې عزيزان او دې سا اقـربـا واړه ممد او هوا خواه د فريد دې څوک به په دا روادار شي. ميان حسن په ډيرو قـولونـو او قـرارونـو خـاطـر د دې په لاس راوړ او هم په دا قول او عهد بهانه جوړې شۀ نور په تـجـسـس د احـوال د فـريـد د عـامـلانو شۀ. فريد په دانش خداداد ما في الضمير د ميان حسن معـوم كړ. لاس ئې له كاره د حكومت واخست او ميان حسن ته ئې ووې هر چې تۀ پوهيږې هـغـه پـه حـكـومـت د جاګير تعين كړه. ليكن التماس دې ما دا دے چې محض په ګفتار د اهل مطلب او غرض رنځه شوے. اول تقصير او توفير او نيک او بد دې ما په خپلو كارونو كښې په تحقيق ورسوه چې معلوم شي چې حق په جانب د چا دے. بيت:

وش بود گر محک تجربہ آید بہ میان تا سیہ روئے شود ہر کہ دروغش باشد

لـک صاحبو (٣) د تـجـربـې او زيـرکانو وئيلي دي چې کۀ حاکم ته له خپلو عمالو (٥) مظنه د خيـلـت او ګمان د نقصان په خاطر ورشي بائده دي چې هغه تغير شي او تفحص او تجسس ئې د احوال او د افـعال وكا او له نيكه بده ئې خبر وغواړي او تحقيق د مقدمې په ښۀ وجه وكا او جـمـع خـرڅ د رعـيـت پـه لاس راوړي او مقرر دي چې كۀ عامل په مال د رعيت دست اندازي كـړي وي لـه دفتـره بـه د جـمـع او د خـرڅ د رعـيـت خـارج نۀ وي او سررشته د اكثر رعايا د هـنـدوستان دا رنګ ده چې ورقونه د خرڅ چې هغه ته كاغذ خام وائي مخفي ساتلے درلي چې خيـلـت [١ ٩] د عملداری ظاهر نۀ شي؟ (١) او دا سعي (٢) خپـل مروت او نيكنامي شماري. مقصود دې ما له دې ملتمس دا دے چې تاته بهبود د خپل كار او ظهور دې ما د راستي ښكاره شي چې خاطر شريف دې تا بې موجبه آزرده نۀ شي. ميان حسن خواب ور كړ چې حقيقت دې تا دحسن عمل او كارداری او معامله فهمی راته په واقعي ښكاره دے او پوهيږم چې پس له ما نـائـب او جـانشين دې ما تۀ ئ. هر ګاه چې دې تاسو (٣) او نـاقـابـل ورونه و ماته ډيره تصديعه رسوي او التماس د حكومت د پرګنو د جاګير په ډير جهد له ما نه كا او زۀ پوهيږم چې دا مهم لـه ،وي صـورت نيـوونے نۀ دے اما په سبب د اظهار محبت غوارم چې مهم د پرګنو و دوي ته وسپارم او وې ګورم چې دوي څۀ په عمل راوړي. پس له هغه به خود واړه كار او روزګار تاته راجع شـي. الغرض په هر صورت چې وو بيا فريد له پلاره آزرده شۀ او دارالخلافت اګرې ته لاړ شۀ. او په دا ورځو كښې اګره دارالخلافت او ځائے د تخت د سلطان سكندر لودي وۀ. په ميـان د لاړې ئـې واوريـدل چې سلطان ابراهيم پس له فوت د سلطان سكندر په تخت د دهلي كښيناست او كانپور ته ولاړ شۀ.(٣) فريد هغه لور ته روان شۀ خوېښانو عزيزانو پس له فريده ډيـر مـلامت په ميان حسن وكړ چې دا رنګ انقلاب او فتور د هندوستان چې له بدسلوكى د

سـلـطان ابراهيم اكثر امراگان روگردان شول او خبر د مغل د راتلو په ميان كښې دے، هيڅ نا
معلوم چې څهٔ مخ بنكاره كا، شيخ نظامي گنجوي فرمائي: بيت:

فلک ناقه را ازان سبک رو کند   که هر ساعتش بازیٔ نو کند

فـريد غوندي دانا دې له خانه جدا كړ. الغرض ميان حسن ډيره سعي په پے د فريد ونهٔ كړه. لا
مـخه د ضرور فريد په لښكر د سلطان ابراهيم داخل شهٔ. دولت خان ابن بدهو ته چې خانه زاد
د اعظم همايون او سلطان ابراهيم ته ډير مقرب او په منصب د باره هزاري سرفراز وهٔ راغے او
مـلازمـت ئـې وكـړ او هـومره خدمت ئې په تقديم راوړ چې دولت خان ډير رضامند او ممنون
شهٔ. هرگاه چې فريد دولت خان په ځان مهربان وليد التماس ئې ورته وكړ چې پلار دې ما چې
حسـن سُـوز دے ډيـر زوړ شهٔ او قصور او فتور او خلل ئې په قوائ مدركه كښې او په غوړو او
پـه سترگـو كـښـې دخـل كړے دے په دا سبب له عهدي د سپاه او رعيت وتلے نهٔ شي او تمام
بـنـدوبست او كار روزگار ئې په لاس د وينځي وركړے دے چې دے ئې په سحر او په افسون
مسـخر كړے دے او جاگير او واړه مال و منال ئې دې ما د پلار په خپل تصرف راوړے دے او
فـرزنـدان او اقـربـا ئـې واړه مـطـلـق بې دخل كړهٔ څكه ئې جاگير او كاروبار مخ په ويرانى او
خـرابـى نـيـولـے دے. كـهٔ پـه توجه دې تاسو جاگير د پلار حواله په ما شي يا زهٔ يا نظام چې زما
حقيقي ورور دے يو به مدام له پونصو سورو سره په ركاب كښې حاضر او بل به بندوبست د
جـاگير مشغول شو. دولت خان په وخت د فرصت دا مقدمه په عرض د بادشاه معروضه كړه.
سـلطان ابراهيم [۹۲] ورته ووئيل چې بد مرد وي چې له پلاره شكوه شكايت كا. دولت خان
لـه اوريـدو د دې خـواب چپ او ساكت شهٔ ليكن فريد ئې ډير دلاسه كړ او ورته ئې ووې چې
خـاطـر جـمـع كـړه انشـاء الله دې تـا مهـم بـه پـه پوهه دې ما دلخواه ميسر شي. او څو دا مهم
صـورت د پيـونـد نيسـي خرڅ له سركاره اخله چې عاجز نشے بنا بر ضرور فريد مصاحبت او
خـدمت او خبرداري د دولت خان كوله. ناگاه خبر د فوت د ميان حسن وروررسيد چې پس له
وفـاتـه د ميـان حسـن دستـار سليمان په سر كړ او لاس ئې د تصرف په مال او په ملک د ميان
حسـن دراز كـړ. نـظام سكه ورور د فريد وهٔ. دے هورته حاضر وهٔ دستار ئې له سره د سليمان
واخسـت او وې وئيـل چې مشر ورور زمونږ فريد دے څو دے شته مونږ ته نهٔ رسي چې نوم د
سـردارى پـه ځان ولاړ كړو. څو ورځي صبر وكړه چې فريد تشريف وفرمائي او قسمت د هر
يـوهٔ ورور د پـلار لـه ميـراثـه جـدا كـا. سـليمان خجل شهٔ او وې وئيل چې په بزرگى او تقديم
كښې مونږ ته ځائے د دم وهلو نشته څو روزگار په مشرانو او په كشرانو متفق دے (۱). القصه
فـريـد دا احوال په عرض د دولت خان ورساوهٔ. دولت خان ډيره سعي وكړه منصب او جاگير

د میان حسن و فرید ته مرحمت شهٔ. واړو خویښانو او عزیزانو او سپاه او رعیت اطاعت او انقیاد بې له سلیمانه چې نهٔ په ژبه نهٔ په زړهٔ موافق وهٔ په تقدیم راوړ. هر گاه چې قدرت ئې د مقاومت نه درلهٔ ناچار ئې ترک د مکان او د استوګې ونیو او محمد خان سور ته چې حاکم د چوند (۲) د پرګنې وهٔ ورغې. او محمد خان څښتن د زر پونصو سورو وهٔ (۲۱) له میان حسن خان سره ئې لا پخوا خلاف او عناد وهٔ مخالفت ئې د دهٔ د ورلي غنیمت وشمارهٔ او په واسطه د مزید شدت او منازعت طریقه د رشتې ئې و سلیمان ته وړاندې کړه او په وعده د امداد او اعانت نې دلجوئي او دلاسا ډېره وکړه چې یو څو ورځې صبر وکړه. چې په اتمام د دې مهم فکر براصل وشي. په دا ورځو کښې ملک د هندوستان پرآشوب او خورماخور دے او سلطان ابراهیم له امراګانو د پلار (۳) نیک سلوکي نهٔ کا او امراګانو له دې ترسه د خپل ځان او ملاحظه ځائے په ځائے تخلف د وړاندې کړے دے او په دا حال کښې توجه د بابر قلندر (۴) په جانب د هندوستان هم اوریدهٔ شي. او طرفین عاقبت د کار معلوم نهٔ دے. شیخ نظامي په دا مضمون ناطق دے. قطعه:

که داند که فردا چه خواهد رسید — یده که خواهد شدن تا پدید

کرا مرده از خانه بر در نهند — کرا تاج اقبال بر سر نهند

او کهٔ سلطان ابراهیم ظفر بیاموند زهٔ به تر میان شم او قرارداد به په دا وکړم چې خاص پور تر تاندې پور ملک دې تا دے او پرګنه د سهسرام دې په نامه د فرید وي او کهٔ په میان کښې غلبه او تسلط د مغل شي هالهٔ به مناسب له وخت فکر وشي. سلیمان ووې زهٔ د خان له ویرې تېښتېدلے او پناه مې تاته راوړې ده جلب د اختیار اوس دې تا په لاس کښې دے. پس له هغه محمد خان سور و فرید ته پیغام [۹۳] واستوهٔ چې کهٔ تهٔ دې ما له مصلحت او صواب دیده تجاوز په میان رانهٔ وړے زهٔ به پخپله درته درشم او په میان به دې تا او دې تا د ورونو صلح او صلاح مقرر کړم. او دا عداوت او خصومت چې باعث د طرفین د ورانی او د خرابی دے له میانه به ئې مرتفع کړم. فرید ځواب ورکړ چې خانصاحب قبله دې ما هم په ملازمت سراسر سعادت وبولي او قیل و قال د طرفینو دې واوري. هر څوک چې قابل د جاګیر او د منصب ووینې هغه دې مقدم او سردار کا او نورو ته دې ئې په اطاعت او انقیاد امر وشي. او په دا دې نظر ونهٔ شي چې سلیمان په خدمت مشرف شوے دے او څو دروغ او بهتانونه ئې په سبب د عداوت طبعي او شرارت جبلي په ناحق په ما بار کړي دي او خان دې په دا روادار نهٔ شي چې خواه نا خواه رعایت د حق ونهٔ کا تقویت د سلیمان وغواړي او دا معني صورت پذیر نهٔ دے او دا معلوم او مشهور دے چې په میان د تمامې قبیلې پیش دستي او تفوق د مشر ورور وي او زهٔ

له سلیمانه په ډیرو کالونو لوئے یم. بائده دي چې ما په ځائے د پلار وشماري او بغض او حسد برطرف کا او له نورو ورونو عزیزانو موافقت غوره کا او له قسمته د جاگیر چې په حیات د پلار ئې درلۀ تجاوز نۀ غواړي او دا التماس او ناموس د قبیلې د سور دے. امید دے چې په دا دې دلالت وفرمایۀ شي. چې ادب د مشر او د کشر په ځائے پاتو شي. هر گاه چې محمد خان په خط د فرید مطلع شۀ سلیمان ته ئې ووې چې فرید په رضا او په رغبت لاس له تا وکښونے نۀ دے خو ئې پښه په سنگ د حادثې برابره او زبونه او عاجزه نۀ شي. او څو ورځې صبر وکړه او منتظر وسه انشاء الله زر به دۀ ته هسې ضرر پېښ شي چې رضامندي به دي تا اختیار کا. سلیمان په دا وئیل او په تغضب او غصه د خپل وررور ملازمت ئې د قدیم غلیم اغاز کړ خیر خواهانو د فرید دا حقیقت و فرید ته وکیښ. فرید په اندیښنه شۀ او په داپله راغے چې دے هم مربي او نیک خواه پیدا کا او منتظر وۀ چې په میان د مغل او پښتانۀ څۀ واقعه مخ ښکاره کا څو پس له مدت خبر د شهادت د سلطان ابراهیم وررسید. فرید په خدمت د بهار خان (۱) خوې د دریا خان لوحاني ورغے او بهار خان له عظیم الشان امراگانو د سلطان ابراهیم وۀ او حکومت ئې د پرگنې د بهار درلۀ او له روش د بدسلوکی د سلطان ابراهیم سر ئې په مخالفت بلند کړ او پنځوس زره سوارۀ د هغه سرزمین د جاگیردارانو وو او همه له ویرې د سلطان ابراهیم په وهم وو او د بهار خان لوحاني سره متفق شوي وو. او سلطان ابراهیم ته فرصت نۀ وۀ چې اور د فتنې د تدبیر په اوبو مړ کا. په دا چې اواز د مغل د راتلو تازه وۀ او په دا میان کښې دریا خان وفات شۀ. بهار خان ځوے د دریا خان واړه سپاه دلاسا کړۀ تمام ملک د بهار او هر چې متعلق وو په تصرف ئې کړۀ څو چې سلطان ابراهیم په مرتبه د شهادت مشرف شۀ بهار خان له اوریدو د دې خبر نوم د سلطنت په ځان کښیښ. [۹۴] او په خطاب د سلطان محمد مخاطب شۀ. او خطبه او سکه ئې د هغه ملک په خپل نوم کړه. القصه فرید ورغے ملازمت ئې حاصل کړ او په ښۀ خدمت او په خپلې دانایی په لږ مدت کښې سرفراز شۀ. او مزرے ئې مړ کړ او خطاب ئې د شیر خان بیاموند او سلطان محمد شیر خان په خدمت د اتالیقی د خپل ځوې چې جلال خان نومیدۀ سرفراز کړ او لویه مرتبه ئې حاصله کړه. تر هسې حده چې کم ستر کار واړه فرید ته رجوع شۀ. پس له یوۀ مدته ئې له محمد شاه نه رخصت د څو ورځو واخست و خپل جاگیر ته ولاړ شۀ. څو ورځې شیر خان هورته توقف وکړ مدعیانو وخت د فرصت بیاموند بنیاد ئې د فساد او د فتنې برپا کړ. شیخ سعدي شیرازي وائي:

بداندیش برخورده چون دست یافت — درون بزرگان به آتش بتافت

بخورده توان آتش افروختن   پس آنگه درخت کهن سوختن

څو محمد خان سور په عرض د سلطان محمد ورسول چې له آهستګۍ راتلو د شیر خان هسې معلومیږي چې منتظر د سلطان محمود (۱) څوی د سلطان سکندر دی هرګاه چې مـه واړه امراګان د سلطان ابراهیم و سلطان محمود ته رجوع دي، شاید چې شیر خان ئې هم ارده د سلام کړی وي او راجاریستل ئې ګران وي. مګر په دا طریقه چې ورور د دهٔ چې سلیمان دی چې په حیات د خپل پلار جمله بندوبست د جاګیر حواله په دهٔ وهٔ او په مرتبه د قبلیت به تر شیر خان دی. او له دهٔ آزرده خاطر په فریاد تري راغلی دی. کهٔ سلطان دواړه پرګنې په جاګیر د سلیمان کا راتلل (۲) به شیر خان ته په ملازمت د سلطان لازم شي. (۳) سطان محمد وفرمائیل چې حقوق د خدمتونو او د دهٔ دولت خواهي په ګردن دي ما دي څهٔ رنګ ئې په ګمان خاطر ازار کړم. هرګاه چې محمد خان طالب او خواهان د فساد وهٔ په دا سبب ئې رخصت تري حاصل کړ. پرګنې ته د چوند راغی بنادي نومیدهٔ خاص خیل ئې وهٔ. په رسالت ئې و شیر خان (۴) ته ورستوهٔ (۵) او پیغام ئې ورته وکړ چې پرګنې دي د جاګیر واړه په خپل تصرف کړی او وروڼه دي محروم پرینږول مناسب دا دي چې ستم پرېږده او بخره بڼه(۶) د دوي هم مقرره کړه چې جنګ او جدل او ازردګي تر میان پاځي. شیر خان څواب وکړ کهٔ دا ملک د وروڼو وی بخره به د وروڼو لازمه وی دا ملک د بادشاه دی و هر چا ونه چې ئې ورکا د هغو دی. او ضابطه او سررشته د پښتنو د بادشاهانو دا رنګ وه چې هرګاه امرا د دوي مړ شي پاتو مال ئې موافق په شریعت په وارثانو قسمت کا او جاګیر ئې هغه څوي ته چې تر نورو وروڼو مشر او په عقل په فهم تري بهتر وي ورکا. اوس مدت وشهٔ چې زهٔ په حکم(۷) د سلطان د دیو پرګنو حاکم او قابض یم او هر څهٔ چې زر مال متاع نقد و جنس د میان حسن وو سلیمان په زور او په ظلم پښي شا (۸) له ما واړه واخست او تاته درغی او تهٔ ئې له خانه مل کړی اوس واړه وروڼه خپله بخره له دهٔ غواړي. خواه ناخواه به یوه ورځ په حضور د[۹۵] سلطان دا مذکور په عرض ورساوهٔ شي او دا چې تهٔ وائې چې په جاګیر او په ملک دي دی په واړو مقدم وي دا خبره صورت نیووني نهٔ ده. بنادي وجارووت او حقیقت ئې یک بیک بیان کړ. محمد خان په قهر شهٔ واړه لښکر ئې له بنادي سره کړ او په سر ئې د سکها خاص خیل چې له طرفه د شیر خان شقدار وهٔ د خواص پور تعین کړ. (۱) او سکها پلار د خواص خان وهٔ. په حکم د شیر خان له بنادي سره ئې جنګ وکړ مړ شهٔ. شیر خان په سبب د خپل لښکر د شکست په خپلو پرګنو کښې ئې قرار نیولی نهٔ شهٔ. څنو ورته ووئیل چې اوس په خدمت د محمد شاه (۲) ورتلل بویه شیر خان ووې چې محمد شاه به دې ما دپاره خاطر د

محمد خان ازرده نهٔ کا چې دے لوے امرا دے. مګر دا چې حکم به په ویشل د
وفرمائي. میان نظام وررور د شیر خان ووې، هرګاه چې کار دا رنګ دے و سلطا
برلاس ته چې له لوریه د بابر بادشاه په کړے مانک پور (٣) کښې وهٔ پناه وروړے
قوت به د دهٔ د کومک انتقام له غلیمه واخست شي. د شیر خان دا خبره خوښه
سلطان جنید نه ئې قول واخست نور په خدمت ورروان شهٔ. او له دهٔ نه ئې لښکر په
کومک وغوښت او له محمد خان سور او له سلیمان سره ئې جنګ وکړ. مات ئې
ئې دواړه خپلې پرګنې او هر چې ورته نژدې وو په خپل تصرف کړهٔ. پس له څو ور
خان کومکیان واړه سرفراز کړهٔ او لائق نذر او نیاز ئې په خدمت د سلطان جنید رو ا
کومک ئې رخصت کړ. او خپل قوم او قبیله ئې چې په تیښت و غرهٔ ته لاړ وو خاان ت
ډیر جمعیت او تقویت ئې حاصل شهٔ. هالهٔ ئې محمد خان ته وکښل چې خان دې راځ
دې په خپله پرګنه کښې جاري کا زهٔ روادار د عداوت نهٔ یم. محمد خان پریشان شو
پیغام ئې غنیمت وشمارهٔ له غرهٔ راکوز شهٔ او پرګنې ته راغے هرګاه چې خاطر د شیر
دې مقدمې فارغ شهٔ. میان نظام ئې پرګنه کښې پریښهٔ او خود و سلطان جنید ته راغ
خان ډیر مدت ورسره وهٔ څو دے په ملازمت د بابر بادشاه روان شهٔ. شیر خان ئې هم
روان کړ. شیر خان څو مدت په خدمت کښې د بابر بادشاه وهٔ نظر ئې په کار
بندوبست د مغل وکړ. یارانو ته ئې وئیل چې نرول (٤) د مغل له هندوستانه اسان د
ورخ په طعام په دستور د ولایت چې هغو بادشاهانو به په روئے مجلس طعام خوړ حا
طباخ ئې د آش د شیر خان د وړاندې کښیښ، له خوار که ئې عاجز شهٔ په دا سبب چ
طعام د دې ولایت دے په هندوستان کښې د دې طعام رسم کم دے. چاړهٔ ئې واخسته
ئې ووړ ووړ کړه نوړی ئې په قاشق اخستے او خوړے ئ. نظر د بابر بادشاه پرې براابر
لیدو د دې کار حیران شهٔ. و (میر) خلیفه ته (٥) چې منصب لې د وزارت درلهٔ او مشر و
جنید برلاس وهٔ ووې چې دا پښتون ډیر عاقل او باتدبیر لیدهٔ شي او نخښې د دو
سلطنت په وچولي کښې د دهٔ [٩٦] ښکاره دي. ډیر امراګان او سرداران د پښتنو ما
دي او په خدمت دې ما راغلي دي. لیکن هر چې په لیدو د دهٔ په خاطر دې ما تیر شول ل
یوهٔ په خاطر راغلي نهٔ وو. دے د نیوو دے. هرګاه چې سلطان جنید سفارش د شیر خان
خلیفه کړے وهٔ میر خلیفه عرض وکړ چې شیر خان هومره جمعیت او قوت نهٔ لري چې
ویره وکړ شي او بې ګناه قول او وعده ماتول ناامیدي د نورو خلقو په وجود راځي
بادشاه په بل کار مشغول شهٔ. شیر خان له خوزیدو د شونډو د بابر بادشاه او د میر

ه وسواسواسووسوسواس شهٔ او له مجلسه پاڅيدهٔ في الحال و سهسرام ته بې رخصته د جنيد او د
شهٔ. (۱)(۱. (مهٔ‌نهٔ. (۱) پس له يوهٔ ساعته چې بابر بادشاه دے په هغه ځائے ناست و نهٔ ليد له حاله
وکړه. پهٔره کړکړه. معلوم شول چې فرار ئې اختيار کړ. از راه اعتراض (۲) ئې و مير خليفه ته
ې زهٔ دې دبهٔ م زدزهٔ دې له قيده منع کړم، زر به ډيرې فتنې فساد له دهٔ ظاهر شي. چې علاج به ئې
چې شيرشيې شغهٔنې شير خان خپل جاګير لره راغے لائق پيشکش ئې و سلطان جنيد ته راستوهٔ او
لو راتلواتلراتو و راتلو ورته التماس کړ چې په سبب د محمد خان سور او سليمان چې دواړو په
د جاګيناګجاګ ـ جاګير د خرابۍ لښکر جمع کړے وهٔ دا خبر مې واوريد از راه بې طاقتۍ دې تا
۱) راروارواراۀ رارراروان شوم. کهٔ د رخصت دپاره زهٔ معطل شوے وے وخت به فوت شوے وهٔ.
مان مې مې مهانان مې وهٔ چې ګوندې رخصت هم ميسر نهٔ وے. په دا شرم کښې دې ما ننګ او
و کيدهٔبدکيد ـ ‌ کيدهٔ.(۳) او دې تا په لطف او په شفقت مې ځان تر دا راورساوهٔ. کهٔ ډير شير
ن جنيد بيلغنيې جـجنيد راضي کړ اما زړهٔ ئې ارام نهٔ کاوهٔ. بيا دويم ځل له سهسرامه بهار ته راغے
خدمـمـدمخخـدمت په خاطر د سلطان محمد شاه پښوا هم بنهٔ ناست وهٔ بيا ئې خدمت د
ښوي پې پې‌ونوي په دهٔ وسپارهٔ. په څلور کاله کښې شير خان قوت ونيو او اکثر لښکر ئې په
مسان لهٔ لانسلسان له ځانه مل کړ. تر هسې حده چې په بهار کښې شخص پاتو نهٔ شهٔ چې له دهٔ
په دا ميا مداپهٔ‌ه دا ميان کښې چې مخدوم عالم له طرفه د بنګالې د بادشاه نصيب شاه د حاجي
رمت نو، نت ـممت نومړے وهٔ له شير ځانه ډيره کلکه يارانه جوړه کړه. نصيب شاه په اوريدو د
۵) او بو باو(۵)) او باعث په دا شهٔ چې ملک د بهار له پښتنو راونيسي. قطب خان (۶) ئې له
په دې مې دېهٔ د دې مهم روان کړ. شير خان هم ډير لښکر جمع کړ او سرداران ئې له ځانه ملهٔ
ننک ئې ئبنګګک ئې وکړ چې آسمان ئې له پهلوانۍ حيران پاتو شهٔ. ناګاه قطب خان په غشي
ن کاکاکاځ ـ کاکړ چې خور ئې په نکاح د اسماعيل سور وه مړ شهٔ ماتې په لښکر د بنګالې
دا شيليې شدانا شيخ اسماعيل له قومه د سور وهٔ او د سروانيو سره ئې خويښي درله او په هغه
بر خان وانخاو ـ خان و کاهين (۷) پور ته ولاړ وهٔ او د سروانيو له قبيلې د اعظم همايون سرواني
ګه نيولېولنيوګهه نيولې وه او شير خان ته ئې مهماني وکړه. شيخ اسماعيل په هغه مجلس کښې
شير خـ خرلـيير خانه وکړ. شير خان پوښتنه وکړه چې دا شخص څوک دے حاضرانو د
، سروانېوانرو سرواني دے. بل يوهٔ ووې چې په اصل کښې سور دے اما د سروانيو سره قرابت
رلي. شب ش. رلپلي. شير خان په عتاب سره ترې پوښتنه وکړه چې په څهٔ دې ذات له ما نه [۹۷]
، ونيل بلنيه وونيل چې زهٔ له قومه د سور يم. اما کهٔ ماته خلق سرواني وائي دې ما څهٔ تقصير
ن دې ځن ځې، ددې خان څخه وساتهٔ او د بنګالې په جنګ کښې ترې ډير ترددونه ظاهر شول.

هرگاه چې حبيب خان کاکړ قطب خان په غشي وويشت دې عزيز د اسماعيل وۀ فتح په نامه د اسماعيل وکښه. شير خان په خطاب د شجاعت خان سرفراز کړۀ. هرگاه چې خان په سلطنت کښيناست دے ئې په حکومت د مالوې مقرر کړ او عام خلقو به ورته سـ خان وے او حبيب خان ته ئې خطاب د سر مست خاني ورکړ. القصه شير خان لښ بنگالې مات کړ مال د لوټ هر چې له بنگالې په لاس راغے واړه شير خان په خپل تصرف او لوحانيانو ته ئې لږ څۀ ورو بخښل ځکه په ميان د شير خان او لوحانيو عداوت او د پيدا شوه. اما په دواړه لوريه پټ حسد او نفاق وۀ. په دا ميان کښې بادشاه د بنگالې لښ سر د مخدوم عالم چې د دۀ د لوريه حاکم د حاجي پور وۀ په دا تقصير چې په دې ـ کښې حاضر نۀ شۀ تعين کړ مخدوم عالم خپلې واړه خزانې و شير خان ته راستولے ا وئيل چې کۀ فتح دې ما روزي شوه خپلې خزانې به بيا واخلم او کۀ نه له غليمه تا څخه بهتر دے او کومک ئې وغوښت. ميا حسو (۱) خوے د عباس سرواني چې خور د شير نکاح کښې د دۀ وه له دريو زرو سورو سره ئې په کومک و مخدوم عالم ته روان کړ ا ئې د خپلو نۀ ورتلو وغوښت په اراده د حق تعالى مخدوم عالم مړ شۀ او ميان حسو ملازمت د شير خان راغے په دا ميان کښې لوحانيو په اتفاق د جلال خان قصد د شير هلاکت وکړ چې په بهانه د مصلحت دې وبالۀ شي نور دې ئې کار د ژوندون تر سر ليکن څنه لوحاني (۲) د شير خان سره اتفاقي وو او شير خان دوي هم ډير په احسار کړي وو له دې حقيقته ئې شير خان خبر کړ چې جلال خان او نورو لوحانيو دا مصلحت دې تا د مرگ کړے دے او شير خان هم په خپل عقل دا حقيقت معلوم کړ هر چې له ملکه او له جاگيره په لاس د شير خان کښيوتل موافق د مرتبې ئې و لوحانيو له دۀ سره متفق وو حصه ورکړه او لښکر ئې جمع کاوۀ. او د شير خان زړۀ د دوي په ج محکم شۀ. وپوهيدۀ چې له لوحاني سره به برابرے د جنگ وکړم پس له هغه ئې عدو لوحاني سره ونيو شير خان جلال خان ته په عرض کړ (۳) چې بادشاه د بنگالې نيت ملک د نيولو لري. نن سبا به لښکر د بنگالې راورسي. علاج واقعه پيش از وقوع با فکر د دوي د دفع بائده دے قوم د لوحانيو درې پيړۍ بلکې زيات مدت وشۀ چې ما بهار په جاگير کښې د دوي دے ډير جمعيت او قوت ئې حاصل کړے دے. جزوي م لوحانيو چې ما په کوشش په لاس راوړے دے هم غواړي چې په خپل تصرف ئې کا او دې ما دادے چې ډير لښکر وساتم چې هرگاه غليم دې ما له قوته خبر شي فضولې او بې ترکه کا او لوحاني په دا سبب له ما سره غليمي کا او دې تا په خدمت هميشه ژبه د

عیب اوړده لري کۀ تـۀ ما دولت خواه ګڼې او په وئیل دې ما اعتماد لرے غوږونه په اوریدل (۴) د بیهوده ؤ خبرو د دوي مۀ ګوماره. (۵) او زۀ له لښکره د لوحانیو [۹۸] ډیر په ویره یم او مقرره ده چې پښتانۀ په کور کښې تر بل نه چې یو کس زیاتې بشي و مرګ ته د هغۀ چې تر دۀ په یو کس کم دے هوس کا. خاصه بیا په دا وخت کښې چې هندوستان ډک په فتنې دے نۀ بویه چې ضرر له دوي و ماته ورسي. بیا به ئې علاج مشکل شي. پس له دا به ملازمت ته په ډیر قوت راځم. جلال خان وپوهیدۀ چې شیر خان له دې مصلحته خبر موندلے دے نور ئې نرمي او ملائمت ورباندې کړۀ او وې وئیل چې رضا دې ما محض دې تا په رضامندی ده په هر نوع چې خدمت قرار نیسي هغه رنګ په عمل راوړه. پس له دا شیر خان په نفاق د لوحانیو باعث شـۀ. یو یو دوه دوه تنه ئې له هغه قبیلې په دلاسا او په مهرباني و خان ته راځکول او هر یو چې به ئې له هغه قومه بیل کۀ په مصلحت او په دلالت به د هغۀ درسته قبیله له خانه مله کړه. څو واړه د شیر خان سره متفق شول نور ئې واړه جمع کړل او ورته ئې ووئیل چې څو ژوندے یم دې تاسو احسان هیروونے نۀ یم او تاسو ته معلوم دي چې ما په ترقي د جلال خان د دولت څۀ کوششونه کړي دي او پس له دا هم ماته له خدمته د دۀ چاره نشته او له هلک والیه ئې تربیت له ما نه موندلے اما شاید چې حقوق د دولت خواهی فراموش کا، په وئیل د اهل غرضو په نقصان دې ما کوشش وکا، اوس کۀ دې تاسو صلاح وې ورته به ووایم چې دښمنان له خپله خدمته پستنه کا او یا ما له کار د وکالته معاف کا. لوحاني د شیر خان سره متفق وو وې وئیل چې په میان زمونږ او د هغو لوحانیو بیا اختلاط او ارتباط شوونے نۀ دے په هر طریق چې خپل آبرونے (۱) ساتے مونږ له تا سره متفق یو او مخ د صلحه له هغو نۀ لرو. شیر خان په رنګارنګ دلاسا او مهرباني زړۀ د هر یوۀ په لاس راوړ پس له هغه ئې عرضداشت په دا مضمون و جلال خان ته وکیښ. چې ما ډیر کاله په اخلاص او په دیانت خدمت د محمد شاه مرحوم (۲) وکړ څو زۀ دۀ له واړو امراګانو او له تمامه قومه غوره کړم او په خدمت ئې دې تا د نیابت سرفراز کړم او دا تردد او اخلاص چې ما دې تا په خدمت ظاهر کړ خود تاسو ته معلوم دے څو چې زۀ خدمت زیات کوم هومره نقصان راپیښیږي او هر وخت چې له ما وشي په ډار وم چې مبادا کۀ نتیجه ئې برعکس (۳) بیاموم خکه ضروري کارونه معطلي مومي او کارونه خلل نیسي. صلاح د دولت دادے چې دا واړه قوم دې مونږ په مهم تعین کړه یو د بله جدا چې فساد په میان نۀ واقع کیږي او نن ورځ دوه کاروه پیښ دي یو مقابله کیدل له لښکره د بنګالې او دویم تحصیل د مال او په دا صورت کښې به دې خاطر له دواړو مهمونو جمع شي او هم به له کم او زیات وئیل د دواړه لوریه خلاص شے. جلال خان په خواب کښې د شیر

خان د عرضداشت وفرمائيل چې هر چي تا کښلي دي واړه حق او رښتيا دي او رعايت دې تا د خاطر په ما لازم دے اوس اختيار دې تا په لاس دے او زهٔ په هر کار کښې له تا متفق يم اما بعضې مصلحتونه چې تعلق په حضور لري هرګاه چې ملاقات يو د بل حاصل شي په ګفتار به راشي بالفعل چې څو ورځې صبر بائده دے په دا چې نهٔ بويه مخالفان [۹ ۹] چې قصد زمونږ لري له نفاقه د ارکان دولت خبر شي زرهٔ ور شي. پس له هغه هر چې دې تا مصلحت وي هغه به په عمل راوړ شي له هغه خواب د عرضداشت جلال خان لوحاني وبلل او عرضداشت ئې د شير خان ورته ښکاره کړ او وې وئيل چې ډير زمونږ د قومه د دهٔ ملهٔ شول او زمونږ له مصلحته ئې واقف کړ او زهٔ له شير خانه انديښنه نهٔ لرم ليکن د خپل قوم له تفرقې مې ډير وسواس په خاطر تير شهٔ. اوس تدبير د دې واقعې څهٔ دے؟ لوحانيو په عرض ورسول چې مونږ هميشه حقيقت د شير خان د مخالفت په عرض راوړ اما تاسو غرض ګانهٔ علاج او تدارک ئې نهٔ کيدهٔ. څو رفته رفته کار په دا حد ورسيد چې ډير خلق له دهٔ متفق او اکثر ورونه اقربا زمونږ ورسره ملهٔ شول. او هغه بې مروت (۱) دې تا مال په افراط په تفريط خرڅ کړ. اکثر خلق ئې له خان مل کړ او نقد او جنس ئې ډير مغلو ته په طريق د نذر او پيشکش ور کړ. او مغل تې هم خپل کړهٔ. اوس مره ول د دې اور دشوار دي او په ملک د بهار چې دا همه منازعت او دښمني په ميان کښې زمونږ په سبب د دهٔ وشوه ځائے د اشوب او د خلل پيدا شهٔ. او له هره لوريه عالم په قصد د دې ځائے پاڅيدل کهٔ په ميان کښې زمونږ مخالفت او منازعت نهٔ وے هم مخالفت له هغهٔ سره مشکل وهٔ څهٔ ځائے چې په ميان کښې زمونږ مخالفت پيدا شهٔ په هيڅ رنګ ساتل د دې محال (۲) ممکن نهٔ دي. مصلحت دا دے چې د خپل ملک پيشکش د بنګالې باچا ته وکړو د هغهٔ د نښان لاندې راتول شو او بيا ئې ترې نه په طور د بخښنې حاصل کړو. (۳) او شير خان ته ووايه چې په تحصيل د اموال مقيد اوسي او مونږه په مقابله د بنګالې د سپاه وردرومو. هرګاه چې نژدې و لښکر (۴) ته ورسو عهد او قول به په واقعې واخلو او له هغو سرهٔ به پيوند پيدا کړو. او کومک به له هغو واخلو. شير خان به منهزم او معدوم کړو. ملک د بهار به په خپل ضبط کښې راوړو. جلال خان دا تدبير پسند کړ او شير خان ته ئې ووئيل چې لوحاني دې ما په قربت له تا سره دښمن شول. فتنه او فساد پاڅوي زر به په خپل فعل (۵) ګرفتار شي تهٔ له لوريه د دوي خاطر جمع کړه په فيصل (۶) د مهمونو باعث شه. او ساتنه د ملک او تولول د مال تعلق په تا لري او زهٔ د لوحانيو او د خپل لښکر سره په جنګ د بنګالې د بادشاه خم کهٔ ژوندے راوجاروتم قدر به دې تا د خدمت په ځاے راوړم او قوت او تقويت به در کړم. او کهٔ نصيب بل څهٔ راپيښ کا هاله تهٔ هر چې مناسب د وخت وي په عمل

راوړه. دا ئې ووئيل او شير خان ئې رخصت کړ او خود له خپله لښکره په مقابله د بنګالي د لښکر روان شۀ. هرګاه چې اراده د پروردګار په سرفرازی د شير خان وه غليمان ئې په تصور د دا رنګ باطلو خيالونو د ستر او کم له خپله وطنه روان کړ. شير خان ئې بې منته او بې محنته په ځائې کښيناوۀ. القصه شير خان په ډير استقلال په ملک د بهار کامران شۀ او جلال خان له قومه د لوحانيو له لښکره د بنګالي پيوست شۀ. شير خان له اوريدو د دې خبر پريشان خاطر نۀ شۀ او اظهار ئې د همت وکړ او قوم ته ئې ووې اوس ملک د بهار بې منازعته زمونږ شۀ او فکر د بنګالي د لښکر ډير اسان دے. زۀ مړانه او مړنتوب (٧) د بنګاليو (٨) ډير ښۀ پيژنم. [١٠٠] زۀ له مخالفته د لوحانيو په انديښنه وم الحمد لله چې له دې وسواسه فارغ شوم. پس له دا به انشاء الله تعالیٰ فتح په فتح او نصرت په نصرت مومو او دا هومره نقصان او شکست چې پښتنو مونده واړه شامت د دوي د نفاق وۀ او کنه په جنګ او په جدل مغل برابر د پښتانۀ نۀ دي و بنګاليو ته څۀ رسي. (١) کۀ عمر وفا وکړه خود به و هر چا ته معلوم شي. چې څۀ رنګ ملک د هندوستان له سپاهه د مغل خالي او صفا کړم او په خپل تصرف کښې ئې راولم. حاضرانو د مجلس ژبه په دعا د شير خان پرانته او په لوړے همت د شير خان قوي دل شول. او شير خان په ساتل د نوي لښکر سرګرم او مقيد شۀ. القصه يوه شپه په بازار کښې د بهار د ښهر له دريو مصاحبانو سره په طريق د سيل لکه عادت د دۀ وۀ ګرزيدۀ او په دغه وخت کښې ئې پټ خيرات کاوۀ په سر پوري به ئې د اودۀ نقد (٢) او جامې کښيښوے ناګاه يو درويش سر له خوابه پورته کړ. او وې وئيل سبحان الله بادشاه د دهلي پياده ګرځي. شير خان دا اواز الهام غائب وشمارۀ. لاس ئې په دستار وواهۀ، زړۀ ئې ډاډه شۀ. في الجمله هرګاه چې فوځونه په درګاه د دۀ جمع شول بهار ته ئې شا ورته کړه په مقابلې د بنګالي د لښکر روان شۀ. بنګاليو په غرور د ډير لښکر او مستو هاتيانو او د آتش بازی او په زور د ځوانانو شير خان په نظر کښې رانۀ وړ. او له ملګری د جلال خان لا مغرور شوي وو شير خان تکيه په کرم د حق تعالي وکړه او ابراهيم شاه ته ئې چې د بنګالي وۀ پيغام واستوۀ چې غرض دې ما په سستی کښې د جنګ دا وۀ چې شايد تۀ ترک د جنګ او صلح صلاحيت اختيار کړے ليکن له نشسته برخاسته دي تا هسې معلوم شو چې مائل و صلح ته نۀ ئ. بهتر دادي چې په دا باب تلوار وکړه چې خاطر دې له وسواسه فارغ شي. بيت:

تا قبضهٔ شمشیر کہ آلاید خون — تا دولت اقبال کہ بالا گردد

ابراهيم شاه خواب ورکړ چې دې ما له تا سره په هيڅ صورت صلح شوني نۀ ده. مدت وشۀ چې تيار و جنګ ته ناست يم. پس له هغه دواړو لښکرو کوچ وکړ يو د بله ډير نژدې شول.

هـر ګاه چې لږه شپه تیره شوه شیر خان لښکر له کوټه ویوست او لښکر ئې دوه څایه کړ . هغه یوهٔ لور ته ئې ووې چې تاسو پښوني ونیسئ او زهٔ به ئې په جنګ (٣) و مخې ته ورشم چېچې یو ساعت په جنګ ورسره مشغول شوم (٣) نـور به شا ورته کړم په پښونیو به ئې درولم. هر ګاه چې لښکـر د غلیم تر تاسو تیر شي هالهٔ ورپسې راپاڅئ. چې په میان کښې ئې حصار ککړو او خراب او پـائمال ئې کړو. شیر خان طغ په جنګ د غلیم روان کړهٔ یوه لحظه ئې جنګ وکړ نـور ئې شا ورته کړه غلیم په غرور د لښکر وړاندې وروستو اندیښنه ونهٔ کړه یکبارګي پسې شیر خـان پسـې روان شـهٔ. هـر ګاه چې تر پښوني لښکر د غلیم تیر شهٔ لښکر د شیر خان له پښوني پـاڅیـدهٔ پـه مـنځ کښې ئې لښکر د غلیم حصار کړ نهٔ ئې مخ د تیښتې او نهٔ د خلاصي [١٠١١] وهٔ. لښکر د بنګالې سراسیمه او پریشان شهٔ مخ ئې په تیښته ونیو. ابراهیم شاه قدم ټینګ کړ او لښکـر تـه ئې ډاډ ورکاوهٔ لیکن هیڅ ئې غوږ ورته نکړ او یو بل په ماتې تښتیدل ډیر خلق په مـاتـې تیښتـه ومـړ او ابـراهیـم شاه په دا قتل کښې مړ شهٔ. او جلال خان چې په لښکر ککښې د بـنـګـالیـو وهٔ زخمي شهٔ مړ ژوندے په تیښته ولاړ شهٔ. او لښکر د شیر خان په لوټ د مالل او د متـا ع هـومره جمعیت بیاموند چې هیڅ یوهٔ ته احتیاج د اس د اوښ د تنبو پاتو نهٔ شهٔ. او مملک ئـې لـه خاره د شدت مصفا کړ او هم په دا مدت کښې کوټ د چنار په لاس د شیر خان ،راغے او صورت د واقعې دا رنګ وهٔ چې یو مرد وهٔ تاج خان نومیدهٔ له قبیلې د سلطان سکندر لودي او لـوے امـرا وهٔ او حفظ او خصمانه د چنار د قلعې حواله په دهٔ وه او هم په دا سبب د ککوټ د محکمې ملازمت ئې د ابراهیم شاه اختیار نهٔ کړ. د دهٔ ارتینه وه لاډ ملکه نومیده له دې سره ئې ډیـر مـحبت وهٔ او تمام بندوبست د تاج خان د سرکار حواله په دې وهٔ. هم په دا سبب پپه میان د تـاج خـان او د هـغو زامنو چې له نسه ئې د بلې ارتینې وو مخالفت پیدا شهٔ څو یوه شپه څوي نـې فـرصت بیاموند په توره ئې لاډ ملکه ووهله زخمي ئې کړه. شور وشر ډیر شهٔ تاج خان هم توره واخسته خیر په مرګ د فرزند شهٔ. څوې ئې پیش دستي وکړه تاج خان ئې مړ کړ ننور ئې استـوګـه پـه کـوټ کښـې مـصلحت نهٔ لیدهٔ وتښتید او لاډ ملکې په قدیم دستور کوټ، ساتلے درلـهٔ. او پـه کوټ کښې له قومه د پښتنو درې ورونه وو نوم د یوهٔ میر احمد د بل میر اسحاق او دریـم میـرداد وهٔ چـې کـاروبـار د تاج خان د سپاه او محافظت د قلعې حواله په دهٔ وهٔ. شیر خـان لـه اوریـدو د دې واقعې و میر احمد ته وکښل. (١) چـې میـرداد و ماته راستوه. چېچې څو خبرې د مصلحت ورته ووایم. هر ګاه چې د میر احمد له شیر خانه قدیمه اشنائي په میان کښې وه لـه اوریدو د دې خبر ډیر خوشحال شهٔ او ورونو ته ئې ووئیل چې خواهنده د دې کوټ ډیر دي او لاډ ملکه کهٔ هر څو تدبیر او عقل لري اما بیا ارتینه ده ساتل به د کوټ له دې ونهٔ شي.

لائق دا دي چې کوټ و شیر خان ته پیشکش کړو او خان د دهٔ په حمایت کښې کړو پس په اتفاق و لاډ ملکې ته ورغلل او حقیقت ئې ورته بیان کړ. لاډ ملکې ورته ووې چې مصلحت دې ما د تاسو په لاس دے هر چې صلاح وینئ هغه په عمل راوړئ. پس له هغه میرداد ووې مصلحت دا دے چې خپل خان د شیر خان په نکاح کړے چې له خوفه له خلله په امان شے او کوټ د چنار ورته وسپارے. د لاډ ملکې کل مراد دغه وهٔ په زړهٔ او په خان ئې دا معني قبول کړ. میرداد ئې په ملازمت د شیر خان روان کړ. میرداد و شیر خان ته ورغے. پس له گفتگویه ئې اصلي مطلب ورته بیان کړ. شیر خان وفرمائیل: مصرع:

درکار خیر حاجت هیچ استخاره نیست

میرداد په وخت د جاروتلو له شیر خانه مقرر کړ چې زر و قلعې ته راروان شه. پس هم هغه زمان چې میرداد له ملازمت د شیر خان رخصت شهٔ شیر خان هم ورپسې روان شهٔ. او میرداد پخوا د شیر خان تر ورتلو خلق د کوټ خبر کړي [۱۰۲] او دلاسه ئې ورکړي وه. د کوټ خلقو بیا میرداد روان کړ چې شیر خان دې زر تشریف وفرمائي او قلعه دې په خپل تصرف کا چې مباداچرې زامن د تاج خان پیش دستي وکا. (۱) بعضي خلق د کوټ له خانه ملهٔ کا هالهٔ به کار په شدت او عداوت ورسي. شیر خان منتظر د اشارت وهٔ لاس په لاس راغے او لاډ ملکه ئې په خپل نکاح کړه. لاډ ملکې له خپله ماله پنځوس زره سرهٔ زر له قلعه سره و شیر خان ته پیشکش کړ او بنځ گنجونه چې په اطراف او جوانب د هغه ملک وو په قید د شیر خان د تصرف راغلل. او تیر صو من سرهٔ زر له کوکی نه چې ارتینه د نصیر خان لوحاني وه پس له وفاته د دهٔ په لاس د شیر خان کښیوتل او تیر صو من سرهٔ زر له بي بي فتحې (۲) لور د کالا پهاړ چې خور زے د سلطان بهلول وهٔ شیر خان بیاموندل. استعداد او قوت ئې د سلطنت حاصل شهٔ. په دا میان کښې سلطان محمود چې خوے د سلطان سکندر لودي وهٔ او رانا سانگا او حسن خان میواتي په اتفاق د بعضې امراگانو پس له واقعې د سلطان ابراهیم په سلطنت قائم کړے وهٔ په قصبه کښې د سیکرې (۳) د بابر بادشاه سره جنگ وکړ شکست ئې بیاموند. حسن خان خوے د عادل خان میواتي په الکه کښې د راجه ډونگر (۴) په قتل ورسید او سلطان محمود او رانا سانگا مات په لور د چتوړ (۵) د قلعې ولاړل (۶). یو مدت په هغه نواحي کښې وو پس له هغه په طرف د پټنې ولاړل نور مسند عالي عمر خان گکهوړ چې حاکم د پنجاب وهٔ او اعظم همایون ثاني چې زوم د دهٔ سلطان محمود وهٔ او مسند عالي عیسې خان خوے د عمر خان او ابراهیم او احمد خان او یوسف خان خوے د مبارز خان او میان بین (۷) خوے د میان عطا شاهوخیل چې حاکم د سرهند وهٔ او میان بایزید چې پس له شهادته د سلطان

ابراهیم ئې ګوښه نیولې وه دا واړه امراګان په قوت او په جمعیت د لښکر مخصوص او ممتاز وو او بـارها ئې له مغله جنګ کړے وۀ او فتح ئې موندلې وه واړو په اتفاق سلطان محمود له طرفه د پټنې وبالۀ او په سلطنت ئې مقرر کړ د بهار په ولایت رانبوت تمام هغه ملک ئې بې د یـوې پـرګـنې د سهسـرام چې قدیمي جاګیر د شیر خان وۀ یو تر بله ئې قسمت کړ او متصرف شـول. هرګاه چې سلطان محمود وارث د سلطنت وۀ ضروري شیر خان اطاعت د دۀ په خاڼے راوړ لاعـلاج ئـې د بهـار ملک د دۀ په تصرف پریښۀ او دوي هم له شیر خانه اقرار وکړ چې هـرګاه چې جونپور له تصرفه د مغلو خلاص کړو په هغه رنګ لکه دریا خان لوحاني له طرفه د سـلـطـان سـکـندر په جنګ او په جدل د بهار سرفراز وۀ له لوریه د سلطان محمود به تۀ مقرر شـے شیـر خـان په دا باب عهدنامه وغوښته دا امراګان چې مذکور شول په حکم ئې د سلطان مـحمود فرمان وکیښ او ور ئې کړ شیر خان فرمان واخست او رخصت و جاګیر ته شۀ. چې تـقویت او جمعیت پیدا کا. بیا به په خدمت حاضر شي. په دا ورځو کښې بابر بادشاه ودیعت د حیـات و خـالـق تـه وسپـارۀ او هـمـایون بادشاه په تخت د سلطنت کښیناست. شیر خان په جـاګیـر یو مدت پاتو شۀ او سلطان محمود په اخستل د جونپور روان شۀ او فرمان ئې په طلب د شیـر خان واستوۀ. شیر خان په خواب کښې [۱۰۳] ورته وکښل چې سامان کوم په تا پسې به روان شم. امراګانو و سلطان محمود ته عرض وکړ چې شیر خان و مغل سره اتفاق لري. او پـه حیـلـه او مـکر وخت تر سره وړي. اعظم همایون عرض وکړ چې کۀ خیال د دۀ د ملګرۍ لـرے متـوجـه د دۀ و جـاګیـر تـه شـه خـواه ناخواه ئې له ځانه روان کړه. نور سلطان محمود و سهسـرام تـه روان شـۀ. شیـر خـان پـه اوریـدو د دې خبر دلګیر شۀ وې وئیل چې تدبیر دې ما موافق له تقدیره نۀ شۀ په دا چې زۀ پوهیږم چې دا لښکر یو د بله مخالف دے او مخالف لښکر ـه غلیم ظفر نۀ مومي. فرد:

رخنه گر ملک انگنده لشکر عهد پراگنده

او میـان بین او بازید اګر چې خوانان د کار او پهلوانان نامدار دي او سپاه او استعداد ډیر لري اما ډیر تـجربه شوي نۀ دي او په بندوبست د ملک نۀ پوهیږي او اعظم همایون او عیسـي خان چـې سـروانـي دي او عـقـل او تدبیر لري او تجربه کار دي دوي ورسره ملۀ شول. لیکن دوي پـوهیـږي چې مهم به تر سره نۀ شي ما وې چې زۀ په څۀ عذر پخپله خپل خان د دوي له رفاقته ستـون کـړم. امـا دغو دواړو سروانیو سلطان محمود دې ما په رفاقت باعث کړ اوس ځائے د عـذر پـاتـو نۀ شۀ. الغرض په ضرور استقبال ته د سلطان محمود روان شۀ او مهمان ئې و خپل کور ته راووست او ښۀ پیشکش ئې تر نظره تیر کړ او خورد او بزرګ او نور سائر الناس چې

خوک وو واړه ئې په مهماني حاضر کړهٔ. پس له ضیافته عهد او قول ئې وکړ چې له رفاقته او له موافقت به پاتو نهٔ شي. لیکن التماس ئې وکړ چې سلطان دې څو ورځې مقام وکا چې کاروبار او اسباب جوړ کړم، هاله به په رکاب کښې روان شم. پس له هغه متوجه په جونپور شول. هغ مغل چې په جونپور کښې وو په مجرد د دوي د لښکر د اواز اوریدو په تیښته ولاړل او هغه مک له لکهنو سره بې جنګه او بې جدله بې خواری په لاس (۱) کښیوت. سلطان محمود په جونپور کښې دیره شهٔ. او لښکر ئې وړاندې تعین کړ جنت مکان همایون بادشاه له اوریدو د دې خبر مخ په طرف د جونپور متوجه شهٔ. (۲) او نژدې و لکهنو ته طرفین لښکري په لږه فاصله یو د بله دیره شوې. (۳) هره ورځ به له دواړه لوریه لښکر و جنګ ته وتهٔ داد به ئې د مردانګی ورکاوهٔ. او شیر خان په عقل دور اندیش پوهیدهٔ چې دا لښکر قوت د جنګ د مغل نهٔ لري پټ ئې و همایون بادشاه ته پیغام واستوهٔ چې زهٔ قدیم بندګي د دغه جناب لرم ما له ضروره مې د دې قوم رفاقت اختیار کړے دے. په ورځ د جنګ به زما دولت خواهي ښکاره ښي. همایون بادشاه په ښو وعدو امیدوار کړ په ورځ د جنګ شیر خان چې په میمنه یعې په ښي څنګ د لښکر وهٔ تر واړو په سر ئې شا ورته کړه او کاڼے ئې د تفرقې په خپل لښکر کښه کړ ابراهیم خان یوسف خیل ښهٔ تردد او تلاش وکړ په شهادت ورسید او میان بازید ډیر شراب څښلي وو هغه ورځ ئې هیڅ کار له لاسه ونهٔ شهٔ په عین مستی کښې ومړ او سلطان محمود تر بهاره پورې جلب ونهٔ جاریوست او له هغه نه د پټنې و ملک ته ولاړ شهٔ او ترک د سلطنت ئې وکړ کښیناست او هغه ځائے کښې وفات شهٔ. (۴) او نور امرایان د پښتنو پریشان شول او بعضې و شیر خان ته ورغلل او بعضې چې له دوي لوئي مالدار وو [۱۰۴] کوښه کښیناستل او منتظر وو چې په دا هرج مرج کښې به څهٔ له پردې د غیبه ښکاره شي. همایون بادشاه پس له دې فتحې في الحال هندوبیګ له لویه فوځه سره په شیر خان باندې ورستوهٔ چې قلعه چنار له دهٔ رانیسي. شیر خان په مقابله د دهٔ پاڅیدهٔ او قلعه ئې ور نهٔ کړه. همیون بادشاه خود په هغه لور متوجه شهٔ. هرګاه چې د شیر خان د جنګ تاب نهٔ وهٔ خویه خپل دواړه جلال خان او حاجي خان ئې په قلعه د چنار کښې پریښول او خود له اهل و عیاله سره غرۀ ته د بهر کنډ (۱) راغے. همایون بادشاه کوټ د چنار محاصره کړ جلال خان خوي د شیر خان او حاجي خان خاص خیل چې پس له هغهٔ په لوړے منصب او عزت سرفراز شهٔ مړانه او شجاعت ئې ښکاره کړ. سعي او جهد ئې په محافظت د قلعې وکړهٔ هومره جنګ او جدل ئې وکړ چې له امکانه د بشریت خارج وهٔ. اکثر لښکر د همایون بادشاه په توپ او توپک او په توره آتش بازی ضائع کیدهٔ. ناګاه همایون بادشاه ته خبر راغے چې سلطان بهادر

شاه د گجرات کوټ د مانډو (۲) واخست او قصد د دهلي د تسخير لري. په دا ميان کښې شير خان لـه اوريـدو د دې خبر فرصت غنيمت وشمارهٔ او همايون بادشاه ته ئې عرضداشت وکيښ. چې زهٔ قديم الايام دولت خواه د دغه درگاه يم او هرگز په دا مدت کښې سرکښې او گردن تابي لـه ما ښکاره شوې نهٔ ده. خدمتګاري او خيرخواهي دا ده اوس مې هم مجرا په جنګ د لکهنو کړې ده او پس له دا به هم هر چې دې ما د لاسه راځي په امداد د بادشاه د لښکر او په دفع د غليم هرگز به روادار په کوتاهي او په تقصير نهٔ شم. ملتمس دا دے چې ما په ځائے د خپلو گماشته ؤ وشماره. نيابت او خصمانه د چنار د قلعې و ماته وسپاره او زهٔ به قطب خان چې دې ما ځوے دے له پنځو زور سورو سره په خدمت د رکاب تعين کړم. او زهٔ ضامن کيږم چې هر تقصير چې له پښتنو ظاهر شي ځواب ئې په ذمه زما دے. همايون بادشاه ځواب ورکړ چې قلعه د چنار به تاته وبخښم اما په دا شرط کهٔ جلال خان دې تا فرزند و خدمت ته راستوے. شير خان په عرضداشت وکيښ چې و پلار ته فرزندان واړه يکسان وي. هرگاه چې قطب خان له جلال خانه لوے دے او عقل او فراست او لائقت د ملوک د خدمت ډير لري ځکه دې و خدمت ته د بادشاه تجويزه وم. په ميان د دې ردوبدل خبر همايون بادشاه ته راغے چې ميرزا محمد زمان په خپل خلاصي فرمان په دروغه ښکاره کړ او ځان له قيده د بياني د کوټه خلاص کړ. او ډير خويشکي (۳) اوباش او لونډان پرې باندې جمع شول. عظيم خلل لـه دې واقعې په ملک ولاړ شهٔ. همايون بادشاه پخوا تر دا هم له اوازه د سلطان بهادر گجراتي په ويره وهٔ په دا وخت کښې چې خبر د ميرزا محمد زمان ورته راغے ډير يې دله او په ترس شهٔ. ځکه ئې مصلحت التماس د شير خان قبول کړ او له اخستو د چنار د قلعې تير شهٔ. شير خان لـه دې رنګه ښائسته اتفاق سجده د شکر د پروردګار په مزکه وکړه او قطب خان ئې له عيسیٰ خان حجاب سره په ملازمت د همايون بادشاه روان کړ. قطب خان او عيسي خان حجاب و گجرات تـه پـه رکـاب کښـې [۱۰۵] د همايون بادشاه وو. پس له هغه ئې فرصت بيامونډ پاځيدل او شير خان ته راغلل. همايون بادشاه په طرف د دارالخلافت اگرې ته روان شهٔ. او لـه اګرې نه په طرف د مانډو په مقابله د سلطان بهادر متوجه شهٔ له سپاه ئې د گجرات جنګ وکړ سلطان بهادر ئې مات کړ. او په پے ورپسې روان شهٔ. او گجرات ئې په خپل تسخير کړ. نور ئې دا ملک په ورونو وسپارهٔ او خود ئې مراجعت و دارالخلافت اگرې ته وفرمايهٔ. شير شاه پـه دې يـو نيم کال کښې په خصمانه او دلاسا د سپاه او په ټولولو د پښتنانهٔ ډيره سعي کړې وه. او هر ځائے چې ئې نوم د پښتانهٔ اوريدهٔ په هر رنګ چې ئې دلاسه کيده رضامند کول ئې (۱) او خپل خدمت ته ئې راوستهٔ. او چې ځنې پښتانهٔ ور چې په فقر او

فاق ئي قناعت کړے وۀ او څنو له کاهلی او له بې عزتی کسب د پلار او نیکۀ ترک کړے گدائي اختیاره کړي وه. شیر خان دا گروه دلاسه کړ او اس او وسله او خرڅ ئې ورکړ نور داخل ئې په جمع د سپاه کړۀ. او هر چا چې منع راوړه هغه ئې مړ کړ او په خپل لښکر کښې ئې ښدوره وکړه چې هر پښتون بې له سپاه گری بل کسب کوي کشتني دے. پښتنو واړو نور کسبونه ترک کړۀ کسب د سپاه گری ئې د وراندې کړ. او بعضې لوئې امراگان چې له ننگه او له عاره له زماني د سلطان بهلول ئې گوښه اختیار کړي وه ملازمت ئې د شیر خان اختیار کړ او داخل په بساط د مقربانو شول. او یو له دیو جمله ؤ عیسې خان خوړے د هیبت خان (۲) سروانې او دویم اعظم همایون سرواني او دریم میان بین لودي (۳) وۀ. في الجمله هیڅ یو پښتون چې په هندوستان کښې ئې نام و نښان او امرائې او سرداري درله پاتو نۀ شۀ. مگر دا چې په ملازمت د شیر خان حاضر شۀ. څکه په حکم د دې آیت "ان الانسان لیطغیٰ ان راٰه استغنیٰ" باد ئې د تکبر او تجسر (۴) په دماغ پیدا شۀ. دعوې ئې د سلطنت اغازه کړه. اتفاقاً بي بي فتحه ملکه لور د کالا پهاړ چې خورزے د سلطان بهلول وۀ او له ویرې ئې د مغلو پناه و دې ملک ته راوړې وه. را ئې ونیوه او واړه مال او متاع ئې ترې راونیو. مگر هومره مال چې څو کاله د دې خرڅ او معیشت پرې کیدۀ ورته ئې پریښۀ. او وائي چې په دې مال کښې شپیتۀ منه سرۀ زر بې له سپینو زرو او له نوره جنسه وو او لور ئې چې مهر سلطانه نومیده جلال خان چې خوړے د شیر خان وۀ وۀ ئې غوښتله چې په خپل نکاح ئې کا. بي بي فتحه ملکه په دا کار راضي نۀ شوه. شیر خان هم جلال خان منع کړ دا جل خپلې مور خپل عزیز ته چې سکندر نومیدۀ ورکړه. څو ئې ارتینه ژوندی وه یو د بله ئې عمر تیراوۀ. هرگاه چې ډیر ناقابل بې عقله وۀ پس له مرگه د ارتینې مفلس مفلوک شۀ او بې نامه بې نښانه ورک شۀ. في الجمله شیر شاه په دا مال نور سپاه ونیو او لا ئې استعداد تقویت ډیر شۀ. هم په دا ورخو کښې نصیب شاه بادشاه د بنگالې مړ شۀ. هرگاه چې خوړے د دۀ ابراهیم شاه (۵) [۱۰۶ ا] پخوا تر دا له لاسه د شیر خان د سپاه مړ شوے وۀ او بل خوړے ئې نۀ وۀ امراگانو د هغۀ په ځائې جلال خان لوحاني په سلطنت مقرر کړ اما سرانجام د کار ترې ونۀ شۀ. او هرج مرج په ملک د بنگالې پیدا شۀ. د شیر خان قصد د بنگالې د اخستو په خاطر کښې مقرر شۀ او کرچ ئې په طرف د بنگالې وفرمایۀ. په یوه هله ئې ولایت د میگزار او درې واړه ډگر ئې واخستۀ. (۱) په دا وخت کښې همایون بادشاه له مهمه د گجرات وجاروت او دارالخلافت اگرې ته راغے. خان خانان یوسف خیل په خدمت د همایون بادشاه التماس وکړۀ چې شیر خان زورور شۀ او تقویت او جمعیت ئې ډیر پیدا کړ له کاره ئې غفلت بائده نۀ دے چې واړه

امـراګـان د سـکـنـدر او نـور تـمـام پښتون ورسره متفق شۀ. هم دا سپاه چې په حضور کښې موجود دے په سر د شير خان روان کړے بويه پناه دې ونۀ شي کۀ فرصت بيامومي او ولايت د بـنـګـالـې واخـلـي او ګنجونه او خزانې د هغه خائے څۀ په لاس ورشي هاله به ئې علاج دشوار شي. فرد:

علاج واقعه پیش از وقوع باید کرد　　　　دریغ سود ندارد چو کار رفت از دست

هـمـايـون بـادشـاه لـه ډيـره غـروره بـرسات په دارالخلافت اګره کښې تير کړ او خان خانان، يـوسف خيـل تـه ئـې خواب ورکړ چې اسونه او سپاه ګډ مات او مجروح دي او خوانان هم له دې مهـمـه د ګجرات چې يو نيم کال ئې وشۀ هيڅ حلاوت ورته پاتو نۀ دے. پس له برساته به کـوچ پـه هـغـه طرف وفرمايم شير خان څۀ دے تر بنګالې پورې به واړه ملک له خاره خسه د فتـنـې مـصـفـا کـړم. هـالـهٔ بـه مراجعت وفرمايم. پس له هغه ئې مير هندوبيک په حکومت د جـونپـور تعين کړ او ورته ئې وفرمائيل چې تفحص او تجسس د شير خان د احوال او د اطوار پـه وجـه احسن وکړه. حقيقت ئې واړه تفصيل وار و حضور ته راستوه. او په ډيره عاجزی ئې ورتـه الـتـمـاس ښکاره کړۀ چې تراوسه په خدمت کښې د بادشاه له مانه نقصان واقع شوے نۀ دے. او اوس هم په لارې د اصلاح راسخ وم ثابت قدم. اميد دا رنګ دے چې دوه کليمې زما د حـقـيـقـت پـه درګـاه د خـلائـق پـنـاه معروض کړه او فرمان د دلاسې او امانی په حق د بنده وغواړے چې خاطر مې جمع شي او منتظر د خدمت وم. هندوبيک په هغه نقد و جنس خوښ شـوے وۀ خواب ئې ورکړ چې څو زۀ ژوندے يم له هره بابه خاطر جمع لره چې په هيڅ وجه به ازار تـاتـه پيـښ نـۀ شـي. پـس لـه هـغه هندوبيک عرضداشت وکيښ چې شير خان پـه دولت خـواهي او په فرمان برداری او اطاعت کښې سرګرم دے او خطبه او سکه په نامه د بادشاه په ممالک مفتوحه کښې لولي او پښې شا د بادشاه له دۀ هيڅ تقصير او کوتاهي ښکاره نۀ ده. او اوس هـم مـنـتـظـر د خـدمت کمربسته ولاړ دے. همايون بادشاه په دغه کال هم په مضمون د هـنـدوبيک د عرضداشت په مهم د شير خان متوجه نۀ شۀ. شير خان فرصت غنيمت وشمارۀ جـلال خـان چې د دۀ خوے وۀ او خواص خان او نور امراګان په مقدار د ديرشو زرو سوررو ئې پـه مهـم د بـنګالې روان کړ او حاکم د هغه خائے چې جلال خان لوحاني وۀ. [۱۰۷] مړ شوے وۀ. امـراګـانـو د بـنـګـالـې، سلطان محمود نوميدۀ له خويښانو د نصيب شاه وۀ په سلطنت ئې غـوره کـړے وۀ. پـه مقابله د جلال خان او خواص خان راروان شۀ. تاب ئې د جنګ رانۀ وړ و ښهـر تـه د لکهنوتي راغے خان ئې قلعه بند کړ تمام مملکت د بنګالې په لاس د پښتون راغے پـه فـراغ د خـاطـر جلال خان په اخستل د کوټ متوجه شۀ او هره ورځ طرفين بازار د جنګ

گـړ میـدهٔ هـمـایـون بادشاه له اوریدو د دې خبر له دارالخلافت اګرې نه په طرف د بهار روان شـٔ. هـرګاه چې بنارس ته ورسید له هندوبیګ او خان خانان یوسف خیله او له نورو امراګانو ئـې پـوښتـنه وکړه چې اول قلعه د چنار واخلم یا په تسخیر د بنګالې متوجه شم او په دا وخت کښې جـلال خان قلعه د ګوړ محاصره کړې وه. (۲) او لا فتـحه شوې نهٔ وه في الجمله واړه امراګانو او هندوبیګ په عرض ورسول چې اول کوټ اخستل د چنار بهتر دي. او مصلحت پـکښـې دا دے چې شیر خان هورته دے. هرګاه چې شکست بیامومي پاڅول ئې د څوي اسان دي. فـکـر او تـدبیـر د واړو پـه دا باب قرار ونیو په دا میان کښې خان خانان یوسف خیل په عرض ورسول چې دوه رنګه تدبیر دې ما خاطر ته رسي، یو تدبیر د خوانی او بل د پیرى دے. تـدبیـر د خـوانـی دا دے چې اول له قلعې د چناره فارغ شوے چې داخل په ممالک محروسه دے هـالهٔ به مهم د بنګالې د وړاندې کړو او بنخ ګنجونه چې په قلعه کښې د ګوړ دي په خپل تـصـرف کـړو پـس لـه هغه به استیصال او سرزنش د شیر خان او اخستل د چنار د قلعې اسان میسـر شي. همایون بادشاه وفرمائیل زهٔ خوان یم په تدبیر به د خوانی عمل وکړم. پس قصد و چـنـار تـه مصمم شهٔ. شیر خان له اوریدو د دې خبر غازي خان سور او سلطان سرواني له ډیره قـونـه او تـمام استعداده په قلعه د چنار پریښول او محافظت او خصمانه ئې د قلعې ورته تاکید وفـرمـایـهٔ او خـود بهر کنډه ته راغے. همت ئې په اخستل د رهتاس (۳) د قـلعې وګمارهٔ او دا قـلعه نهایت محکمه او مضبوطه وه او په اطراف او جوانب ئې اوبهٔ او آباداني ډیره وه او د هند خـنـق له ومرو کتابونو وائي چې دا قلعه هیڅ یوهٔ سلطان په زور اخستے نهٔ وه او فرمان روائے د دې قلعې لوے راجا وهٔ او چورامن (۴) برهمن و دې راجا ته ډیر تقرب او عزت پیدا کړے وهٔ. شیـر خان له ډیرې عاقبت اندیشی او له بنانسته تدبیره په وسیله د چورامن زناردار له دې راجا سـره اظهـار د اخلاص او د محبت کاوهٔ او په استول د تحفه او د هدیه لواے لوز ئې د یارى او دوستی ساتلے درلهٔ او چورامن ئې له رعایته ممنون د احسان او مرهون د منت وهٔ. په دا وخت کښـې چـې شیـر خـان د غـرهٔ لـور تـه پناه ورووړه تضرع او منت ئې وکړ او یو لورې ئې د قلعه دپـاره د خپـل خیـل او عیـال او اطـفال او د نورو ښځینو له راجا نه وغوښت او تر دا پخوا ئې و میـان نظام ته چې سکه وررور د شیر خان وهٔ، څو مدت ئې خائے په قلعه کښې ورکړے وهٔ. پس له عرصه ئې رخصت کړ دا څل هم راجا مذکور له اول په سعي د چورامن التماس د شیر خان قبـول کـړ. هرګاه چې شیر خان خپل متعلقات دا خوا ته د کوټ ورروستل [۱۰۸] راجا نظر په کثرت د ښځینو وکړ او پښیمان شهٔ او وې وئیل چې هاله ما خائے و میان نظام ته په قلعه کښې ورکـړے وهٔ ښځـینـو دا جـمـعیت او تقویت او شوکت نهٔ درلهٔ او زهٔ پرې غالب وم اوس له دې

هومره جمعیت او له دې لښکره ډېره ملاحظه و خاطر ته دې ما راغله. په هیڅ وجه دې ما تاب د لښکرو د مقاومت نشته او زهٔ څرنګ طریقه د احتیاط له لاسه پرېږدم. شیخ نظامي فرمائي: بیت:

از پے آنست کہ شد پیش بین   بُرَ   آنچین

چورامن کهٔ هر څو سعي وکړه سودمنده نهٔ شوه. شیر خان نهایت دلګیر شهٔ او راجا ته ئې پیغام واستوهٔ چې اعتماد او باور مې دې تا په قول په ګفته وکړهٔ. دا خلق مې په طرف د رهتاس له بهیر کنډه د قلعې روان کړ (۱) چې له آفته او له حادثې دې تا په جوار او پناه کښې په امن پاتو شي اوس تهٔ په مخالفت او ممانعت پاځیدلے او له دې ځایه تر بهیر کنډه مسافت او دور درازي د لارې ډېره ده او وخت تنګ او سپاه د مغل نژدې دے کهٔ له دې حقیقته واقف شي په یوهٔ دوړ به اهل عیال د پښتنو تاخت او تاراج کا او دا وبال به دې تا په غاړه تر قیامته پاتو شي. او شېږ منه سرهٔ زر ئې و چورامن ته پټ ورستول او پیغام ئې ورته وکړ چې کهٔ راجا التماس دې ما نهٔ قبلوي په جنګ به د راجا مستعد شم او دا ملک چې نژدې و قلعې ته دے اوس به لاس دې ما دے تمام به هسې ویران او خراب کړم چې تر قیامته به آبادان نهٔ شي. چورامن له تمام حقیقته او له ماتولو د قول او د اقرار راجا خبر کړ سخت ئې ورته ووې چې شیر خان خپل عیال او اطفال په اشارت دې تا له بهیر کنډه راروان کړ اوس کهٔ تهٔ خبره دې ما نهٔ منې هم دا رنګ به خپل ځان مړ کړم. هرګاه چې راجا چورامن په دا باب ډېر باعث ولید وویرید چې مبادا دا برهمن دے خپل ځان مړ کا مطعون به د خپل دین او مذهب شي. خواه ناخواه ئې التماس د چورامن قبول کړ چورامن شیر خان له دې معنې اګاه کړو او شیر خان ته پخوا تر دا خبر رسیدلے وهٔ چې خواص خان کلان په خندق کښې د ګوړ غرق شهٔ او له طرفه د چنار خبر ورته راغلے وهٔ چې مغلو واخست په دا سبب ډېر غمګین او حیران او پریشان وهٔ. ناګاه باد د لطف د پروردګار په موجب د دې آیت "امن یجیب المضطر اذا دعاہ فیکشف السوء" په غمګین او په اندوهګین خاطر ئې والوت چې له لوریه د رهتاس د قلعې خبرونه د قبول د التماس ورته رسیدلي وو. شیر خان صاحب خان ورور د خواص خان ته خطاب د خواص خاني ورکړ او په طرف د ګوړ ئې روان کړ او پیغام ئې ورکړ چې همایون بادشاه قلعه د چنار واخسته اوس البته و ګوړ ته ورتلل بویه او سعي وکړئ چې پخوا د مغل تر راتلو کوټ د ګوړ ونیسئ. هرګاه چې لښکر د مغل دروړسي تاسو ته بې د مغل د جنګ نه بل کار پاتو نهٔ وي. هم هغه ورځ چې خواص خان و قلعې ته د ګوړ ورسید ملامت ئې په جلال خان وکړ او وې وئیل چې حکم د حضرت اعلیٰ یعنې د شیر خان دا رنګ دے چې یوه لحظه دې په تسخیر د

کوټ د ګوړ سستي راوړ نهٔ شي. جلال خان ووئيل نن ورځ سخت جنګونه وشول. تمام سپاه مات ګڼه دے انشاء الله تعالیٰ سبا به شروع په جنګ وکړو څو په مخ د فتح و فيروزی له ځادره د غيب ښکاره نهٔ شي هومره له اسه کوزيدونے نهٔ يم. خواص خان ووئيل چې ماته حکم نهٔ دے چې يو درنګ په دا باب تغافل او تکاسل وکړم. جلال خان ووئيل هم دا رنګ دي ليکن تهٔ بالفعل و کور ته لاړ شه پسمانده د خپل ورور وګوره. [۱۰۹] دلاسا او جمعيت ورکړه او تسلي او خاطر داشت د ماتميانو په وجه احسن وکړه. پس له هغه به هر شان چې دي تا رضا وي هغه په عمل راوړ شي. خواص خان کور ته د خپل ورور لاړ شهٔ او واړه سپاه ته ئې پس له طريقه د عذر خواهی په صبر او په شکيب رهنموني او دلالت وکړ بيا ئې ورته ووې چې حکم د حضرت اعلیٰ دا رنګ صادر دے چې هرګاه تهٔ ورورسے واړه فوځونه او نوره عمله او فعله او اسباب د کوټ د اخستو تيار کړه. بې توقف په تسخير د قلعې مشغول شه او توقف او سستي ګنجائش او فائده نهٔ لري. پس له هغه ئې نقيبانو ته وفرمائيل چې تمام لښکر خبردار کا چې هر څوک په خپله مورچه کښې مستعد شي (۱) چې قلعه په عنايت الٰهي او په اقبال شير شاهي مفتوحه شي. او جلال خان ته ئې خبر واستوهٔ چې زهٔ مطابق د حسب الحکم متوجه د جنګ شوم او په اخستل مې د قلعې همت وګمارهٔ. شاهزاده دې هم بې توقف حاضر شي. جلال خان له حکمه د دهٔ بدمزه شهٔ ليکن لاچار سور شهٔ روان و جنګ ته شهٔ خواص خان هومره کوشش او سعي او تردد وکړ چې پخوا د جلال خان تر ورتلو قلعه ئې واخسته او فتح نامه ئې شير خان ته روانه کړه. شير خان نهايت خورم او خوشحال شهٔ. او له طرفه د راجا د رهتاس د قلعې (۲) چورامن برهمن پيغام ورته راستوهٔ. شير خان له ديو دواړو خبرونو ډير خوشحال او مسرور شهٔ او شکرانه ئې د پروردګار جل شانه په ځائے راوړه. او اهل و عيال ئې و قلعې ته روان کړهٔ او له هغه طرفه راجا د رهتاس د قلعې ورهٔ ته د قلعې په استقبال د شير خان راغے. شير خان هومره نقد او جنس او نور نفيس څيزونه ورکړهٔ چې زړهٔ د راجا موم او سترګې ئې ړندې شوے. شير خان په دا تدبير راجا په خپل دام کښې بند کړ. مصرعه:

زر بر سر فولاد نهی نرم شود

پس له هغه راجا ووې چې قلعه دې تا ده هر ځائے چې دې تا رضا هغه ځائے کوز شه. شير خان و پښتنو ته ووې خپل اهل و عيال و کوټ ته ورولئ او تاسو هم ورسره اوسئ او وروستو تر واړو شير خان خود هم و قلعه ته ننووت. او يو لور او بل لور ئې د قلعې ملاحظه وکړه او وې ووئيل چې قلعه د چنار له لاسه ولاړه خدائ (۳) تر هغې بهتره قلعه راکړه. نور ئې پاسبانانو ته د

قلعې وونيل چې په ميان دې تاسو او د پښتنو موافقت او رفاقت ممکن نۀ دے. بهتره دا ده (۴) چې څو دا جـمـاعـه دلتـه وي تـاسـو پـه خدمت د راجا ورشئ. پاسبانانو منع کړۀ په دا سبب جـزوي جـنـګ و جدل هم وشۀ. عاقبت پښتنو په ضرب د توري راجا او د دۀ متعلقان په وهل لـه قـلـعـې وويستـل. په هغه روش قلعه د رهتاس د شير خان په لاس راغله. په هند کښې افواه مشهـوره ده چـې شير خان د ارتينو په ځائے پښتانۀ په پالکيو او په ډوليو کښې کښينولي وو او پـه دا بهـانـه ئـې په قلعه ننه ايستل او په دا حيله ئې راجا مړ کړ او قلعه ئې واخسته. اما صحيح روايت دا دے چې سابق وکيښ شۀ. چې راويان د تاريخ واړه بزرګان او صحيح قول دي او په هـغـه مـعـرکه کښې حاضر وو. لکه مظفر خان چې ورارۀ د عيسىٰ خان حجاب او دے ځوے د هيبـت خـان او نـمـسـے د عـمـر خـان سرواني وۀ او شيخ احمد ځوے د بازيد شيخ سرواني او [۱۱۰] عبـاس خـان ځـوے د شيـخ علي سرواني چې مصنف او مؤلف د اصل مطلب او د عين مذکور دے. (۱) دا رنګ کښـې چـې مـا لـه مـظـفـر خانه چې ورارۀ د مسند عالي عيسى خان حـجـاب وۀ پـوښتـنـه وکړه چې تاسو تسخير د رهتاس د قلعې په دا رنګ فرمايئ. او په عرف کښـې دا رنګ مـذکور دے؟ مظفر خان ووې چې دا خبره فروغ صدق نۀ لري په دا چې زۀ په هـغـه وخـت لـه خپله ترۀ چې مسند عالي عيسى خان وۀ ورسره وم او اهل و عيال دې ما هم په کـوټ کښـې وۀ. زۀ له حقيقته د دې قضيې ښۀ واقف يم. (۲) الـقـصـه هر ګاه چې قلعه د رهتاس شير خان واخسته خپل مشر ځوے چې عادل خان (۳) وۀ او قطب خان نائب ئې په محافظت د قـلـعـې پـريښـول او خود راکوز شۀ. په طرف ئې د بهير کنډه د غرونو توجه وفرمائيله او هغو غـرونـو کښې ئې يو ځائے قرار نۀ نيو (۴) څـو هـمـايـون بادشاه قلعه د چنار رانيوه. غازي خان سور(۵) او سلطان سرواني (۶) چې په حکم د شير خان په محافظت د چنار د قلعې پاتو شوي وو او هـر ګاه چې مورچې او دمدمې نژدې و قلعې ته ورسيدے قول ئې وغوښت له قلعې راکوز شـۀ او قـلـعـه پـه تصرف د همايون بادشاه راغله. همايون بادشاه پس له فتح د کوټ په بنارس کښـې ئـې ډيـره ووهـله او شير خان ته ئې فرمان واستوۀ چې راشه ملازمت حاصل کړه چې چې له دسـت بـرده د لښکر په امن شے. شير خان خواب وکيښ چې زۀ بنده د بادشاه يم ليکن د خان د ويـرې و خـدمـت تـه درتـلے نۀ شم. ډير پښتانۀ په ما جمع شوي دي او بنده زاده جلال خان قـلـعـه د ګـوړ فتح کړه. کۀ له ډيره ملکه يو طرف ماته عنايت شي پس له هغه چې خاطر مې له واهمې جمع شي له خپلو متابعانو او متعلقانو سره به په خدمت سراسر سعادت مشرف شم. او اوس ملک د بنګ (۷) او د بهار پـه تصرف دې ما دے کۀ ملک د بهار د سرکار په ګماشته ؤ وسپارۀ شي ملک د بنګالې دې په طريق د جاګير و ماته عنايت شي. هر چې ښځې خزانې د

ګوړ د قلعې دې په خدمت به ئې دراستوم او لس لکه به نقدې روپۍ په خزانه عامره داخلې کړم. اما په دا شرط کۀ رايات عاليات له بنارسه وجاروو ځي. همايون شاه التماس د شير خان قبول کړ اس و خلعت خاص ئې و شير خان ته واستول. شير خان له دې واقعې خوشحال او خورم شۀ. په دا ميان کښې وکيل د سلطان محمود چې حکومت ئې د بنګالې موندلے وۀ په ملازمت د همايون بادشاه راغے او عرض ئې وکړ چې پښتنو قلعه د ګوړ واخسته او کۀ ملک په تصرف دې ما وي او بادشاه په التماس دې ما عمل کا اعتماد دې په ګفته د شير خان ونۀ کا زر دې کوچ په طرف د هغۀ وفرمائي. چې څو پښتنو ملک په خپل ضبط کښې راوړے نۀ دے او قدم ئې محکم او ثابت کړے نۀ دے دوي له دې ملکه خارج کړه چې فتنه دفع او فساد مرتفع شي. او له دې لوريه به زۀ هم لارې د تلو د دوي بندې کړم. نور به مشرف په خدمت د سلام شم. او دې جماعت ته قدرت د مقاومت او تاب د برابرى چندان نشته. په مجرد د بادشاه د راتلو د خبر به يا تار په تار يا مړۀ يا قيد به شي. همايون بادشاه نظر په تازه عهد او قول ونۀ کړ. حوري برلاس(۸) او خان خانان يوسف خيل چې پښتون وۀ. (۹) [۱ ۱ ۱]له دوه ويشتو امراګانو سره ئې وړاندې روان کړۀ. او ميرزا هندال ئې له هر دو سره په طرف د دارالخلافت اګرې روان کړ. چې په ممالک محروسه کښې فتنه او فساد واقع نۀ شي. همايون بادشاه له باقي سپاه سره په لور د بهير کنډې د غرۀ روان شۀ. او دا غر د بهير کنډې په سبب د سختي او د ډيرو ونو نهايت دشوار وۀ او ګريزګاه د شير خان وۀ. شير خان له اوريدو د دې خبر اکثر لښکر و قلعې ته د رهتاس روان کړ او خود کم و بيش له پونصو سوررو سره په طرف د ګوړ روان شۀ او په غرونو کښې د هغه نواحي پټ شۀ. او جاسوسان ئې و لښکر ته د همايون بادشاه واستول او همايون بادشاه دوه منزله په لور د بهير کنډه روان وۀ. چې خبر ئې د شير خان د توجه و ګوړ ته واوريد وجاروت. خان خانان يوسف خيل او حوري برلاس (۱) چې مقدمه او پيشرو د لښکر وۀ خبر شول (۲) چې امراګان د سلطان محمود چې حاکم د بنګالې دے په شپه ئې ديوال د کوټ مات کړ او خپنه ياران چې له دوي تار په تار وو له خانه ئې واخستل و ملازمت ته د همايون بادشاه راځي. حوري برلاس (۳) او خان خانان يوسف خيل ئې مخ ته روان شول. لا پستنه جاروتلي نۀ وو چې همايون بادشاهِ هم وروررسيد. حوري برلاس (۴) سلطان محمود و ملازمت ته د همايون بادشاه راوست او په ملازمت ئې مشرف کړ. اما هغه رنګ لکه د سلطان محمود اميد وۀ په ظهور را نۀ غلل. په خپلو راتلو پښيمان شۀ. هومره غم او اندوه ئې په خاطر زورر وکړ چې په لږ مدت کښې ئې خان په ملائکو د رحمت وسپارۀ. همايون بادشاه په قصبه کښې د منير سامان د لښکر جوړ کړ مؤيد بيګ

خوږې د سلطان محمود لودي (۵) او جهانګير قلي او ابراهيم بيګ (۶) حوري برلاس (۷) او مبارک فرملي ته ئې له ديرشو زرو سورو سره حکم ورکړ چې اوۀ کروهه په مخکښې د لښکر وړاندې ځي. هرګاه چې شير خان عزم جزم د همايون بادشاه په لور د بنګالې واوريد له لږه لښکره سره پټ په طرف د بنګالې روان شۀ. هرګاه چې همايون بادشاه و پټنې ته ورسيد قراول د همايون د لښکره خبر شول چې لږه لښکره سره ښتنو په باغ کښې ډيره نيولې ده له ګنوار (۸) نه ئې پوښتنه وکړه چې دا څوک دي؟ دۀ ورته ووئيل چې دا جماعت له جمله لښکره د شير خان دے د شير خان سره ځي. قراول نوم د شير خان واوريد ليکن تحقيق ئې ونۀ کړ چې جمعيت ئې څو دے په دا ګمان چې جمعيت به ئې ډير وي. مويد بيګ چې مقدمة الجيش د بادشاهي لښکر وۀ اګاه ئې کړ. مويد بيګ هغه درنګ خبر بادشاه ته واستوۀ او له حقيقته ئې د احوال اګاه کړ. نور مويد بيګ جاسوسان تعين کړ چې خبر تحقيق کا او ورته ئې راوړي. کۀ څو جستجوئ او جاسوسي جاسوسانو وکړه اثر د مخالف هيڅ ښکاره نۀ شۀ له مقدمانو ئې د هغه ځائے پوښتنه وکړه. مقدمانو ووئيل چې شير خان له لږه جمعيته سره دلته راغلے وۀ. هرګاه چې فوځونه د بادشاه نمايان شول په ډير تلوار و مونګير (۹) ته روان شۀ. سپاه د بادشاه ورپسې روان شۀ اما شپه په ميان کښې حجاب شوه. په ميان د طرفين بعد او مسافت واقع [۱ ۱ ۲] شۀ هرګاه چې تر دروازې (دګړه) ورووت تر اوبو پورې شۀ. (۱) سيف خان اچاخيل (۲) چې سروانے وۀ وئ ليدۀ چې له فرزندانو سره په لور د رهتاس تۀ. شير خان ورته ووې وجاروځه دا دے مغل راغے. سيف خان ووې زۀ تيرصو سوارۀ واړه د کار ځوانان لا يوۀ قومه د سرواني لرم. او مغل دې تا له لږه سپاهه واقف شوي دې درپسې به راشي او بعد او مسافت په ميان کښې لږ دے خدائے مۀ کړه چې په نظر شي او چشم زخم سترګې د تمام ښتنانۀ رندې کا. اوس ما قرار او وعده وکړه چې خپل ځان له وروڼو سره تر تا قوربان کړم تنګه خلۀ به د ګړه د ګودر ونيسم. همايون بادشاه به هومره معطل کړم چې تۀ خپل ځان و مکان ته د امن او د امان ورسوے. او فرزندان دې ما له خپلو فرزندانو سره بيايه او خاطر شريف جمع کړه چې څو له دې خوانانو يو تن ژوندے وي مغل به طاقت د تيريدو د ګودر رانۀ وړي. شير خان کۀ هر څو مبالغه وکړه سيف خان پستنه جاروتل راضي نۀ شۀ. شير خان قبيله د دۀ له خپلې قبيلې سره روانه کړه. سيف خان په سحر خپلو وروڼو ته ووئيل چې واړه اودس غسل وکړئ نور حاضر شئ. اوس به قراول د مغل د لښکر مخ ښکاره کا. هرګاه چې لښکر ښکاره شۀ ښتنانۀ لکه وړې مزري له پخوني پاخيدل او اماده د جنګ شول. کۀ هر څو فوځونه د بادشاه لکه چپې د سيند پے در پے راغلل ليکن ښتنو ښه د استقلال لکه محکم غ

په خائے ښخه کړه. يو قدم ئې لښکر د بادشاه مخ په وړاندې پرې نهٔ ښودو. خو درې حايه سيف خان زخمي شهٔ او اکثر ورونه ئې شهيدان شول. مغلو له ډيرې بې شعورۍ سيف خان ونيو او همايون بادشاه ته ئې ورروست. بادشاه ئې په حقيقت واقف شهٔ. وې فرمائيل چې نوکر ته دا رنګ بائده دي چې په کار د خپل صاحب دلسوز وي او له خپله مرګه هرګز باک نهٔ لري او نهٔ نظر د غليم په ډير يا په لږ سپاه وي. بيت:

یک نوکر مطبوع به از صد فرزند   آن مرگ پدر خواهد و این عمر خداوند

نور ئې استوګه او رخصت ورته وفرمايهٔ. سيف خان رخصت په طرف د شير خان قبول کړ رخصت شهٔ، نژدې د مونګير په شير خان پسې ورسيد. هيبت خان نيازي حاکم د مونګير وهٔ. شير خان ورته ووې چې تهٔ خپل اهل و عيال له خانه روان کړه و ګړهی ته ځان ورسوه. چې همايون بادشاه راپسې راتلونے دے. شير خان په بيړۍ کښيناست او خپل خلق ئې هم په نورو بيړيو کښيناوهٔ و ګوړ ته روان شهٔ. په دوه شپو کښې هورته ورسيد. جلال خان چې ځوے د دهٔ وهٔ او حاجي خان له نورو امراګانو سره واړه لس زره ځوانان وو په سر د هغې دروازې د ګړهی چې لار د درست ملک د ګوړ او د بنګالې په هغې دروازې وه تعين کړهٔ. او وې فرمائيل چې دروازې دګړهی پورې کړئ او توپې پرې کيږدئ. [۱۱۳] همايون بادشاه هومره معطل کړئ چې همه ګنجينه او خزينه د ګوړ واخلم او قلعه وته ئې د رهتاس روانه کړم، او بل تاسو هرګز تر دروازې د جنګ دپاره مهٔ ورځئ. پس له دې کاره به تاسو راوبولم. جلال خان مطابق د فرمائيل دروازه د ګړهی ټينګه کړه. څو لښکر د همايون وربنکاره شهٔ جلال اراده او قصد د جنګ کاوهٔ او حاجي خان او نورو امراګانو منع کاوهٔ ورته ئې ووې چې زمونږ مغلو سره جنګ مناسب نهٔ دے. مونږ ته بائده دي چې نصيحت دې تا د پلار په ځائے راوړو. دروازه د ګړهی محکمه او مضبوطه کړو او په ځائے ناست يو او څو شير خان په جمع خاطر خزانې او ګنجينې له ګوړه وباسي او رهتاس ته ئې روانې کا. قراول د همايون د لښکر چې اووهٔ کروهه د بادشاه د اردو (۱) نه وړاندې تلل په تفاوت د درې کروهونو له دروازې د ګړهی ډيره شول. او هر سبا به ئې اسونه پرې زغلول او غشي به ئې ورته غورزول او په بانګ بلند به ئې جلال خان ته سپک وئيل چې اے نامرده په مثال د لوليو دې ور په ځان پسې پورې کړے کښيناستے کهٔ مرد او د مرد ځوے ئې او بهره د ځوان مردۍ لرے و جنګ ته چې مردان راغلي دي راووځه. چې تا تراوسه لا مغل ليدلے نهٔ دے. او دا صحبت هره ورځ په ميان کښې وهٔ بعضې په توپو په ټوپکو هلاکيدل او دا ګفتګوئ نفرانو جلال خان ته رساوهٔ. يوه ورځ جلال خان و ډيرې ته د حاجي خان وړغے ډيره زارې او عاجزې ئې وکړه چې له زيږو د مغلو

او چې هره ورځ ئې په کوټ زغلوي او غشي غورزوي ډېر تنګ شوم نور تاب د بې ننګۍ او بې ناموسۍ نهٔ لرم. او بې عزتي تر حده تېره شوه. او کهٔ دې تا له مصلحت وي نو جنګ ته وروځم جنګ به وکړم ګوره له پردې د غيبه څهٔ مخ ښکاره کا. حاجي خان ورته ووئيل چې حکم دې تا د پلار ماته معلوم دے جلال خان ووې څو تا حکم د جنګ راکړے نهٔ دے هومره خوراک او څښاک په ما حرام دے. پس حاجي خان ووې هرګاه چې تهٔ رضامند د دې معنې شوے زهٔ هم راضي يم. هر نامرد چې له دې جنګه ژوندے ووت په عتاب او خطاب به د شير خان ونيو شي. او کهٔ فتح نصرت خدائے راکړهٔ مجرا ده نور فاتحه ئې په دا نيت وکړه. جلال خان کور ته راغے سبا د وخته لکه د مغلو طريقه وه په قلعه ئې وزغلولے بيا ډېرې ته وجاروتل وسلې ئې پرانتې او زينونه ئې له اسونو کوز کړهٔ په فکر د خوراک او څښاک شو نوکران تار په تار شول او دولت مندان په فرش د راحت په خوب د غفلت اودهٔ شول. کم و بيش نيمه ورځ تيره شوه چې پښتنو دروازه پرانته په يوهٔ خل ئې پرې وزغلولے لې مغل وو په هغه زمان چې اسونه ورته تيار وو و جنګ ته راووتل نور اکثرو مخ په تيښته ونيو طرفين عظيم جنګ واقع شهٔ. مبارک فرملي او ابوالفتح لنګاه اکثر سرداران د مغل د لښکر په قتل ورسول درسته ډيره د مغلو اسباب او اس او اوښان او هاتي نقد او جنس هر چې وو په لاس د پښتنو کښيوتل. مګر څوک خالي سپاهي خلاص شوے وي او کهٔ نه واړه ومړل. او وائي چې په دا فتح کښې هيڅ يو پياده له قومه [۱۱۴] د پښتنون نهٔ وهٔ چې څلور پينځهٔ اسونه او بار د صندوقونو ئې له دې لوټه په لاس راغلل. او شير خان هومره ګنج او خزانه او مال او متاع په قلعه کښې د ګوړ بيامونده چې باربردار ورته مونده نهٔ شول. او درمانده وهٔ چې دا مال او متاع به څرنګ و رهتاس ته رسوم. په دا ميان کښې جلال خان خبر د فتح ورستاوهٔ شير خان له اوريدو د دې خبر ډېر خورم او خوشحال شهٔ او جلال خان ته وکښل چې له لوټه د دې فتحې هاتي او اوښ او غځکې او قچر او هر چې باربردار شې هر چا څخه چې وي تسلي د خاطر ئې وکړه او واړه باربردار دلته راستوه چې زهٔ احتياج د باربرداري لرم. جلال خان دا کار په عمل راوړ او شير خان ووې د دې فتح مثال دا دے چې هر چرګ چې په اوله هنګامه کښې وتښتي کهٔ بيا ئې هغه هنګامې ته ورورے بانګ کا اما جنګ نهٔ کا. القصه جلال خان پس له فتحې دروازه د ګړهي په دستور سابق پورې کړه. کم و بيش يوه مياشت ئې همايون بادشاه معطل کړ په دا فرصت کښې شير خان واړه مال او متاع او خزانې د ګوړ له څلور کنجه و رهتاس ته روانې کړے او جلال خان ئې و خان ته وبالهٔ. په لارې د بهير کنده و رهتاس ته روان شهٔ. پس له هغه همايون بادشاه و ګوړ ته تشريف وفرمايهٔ. شير خان ځايونه او محلونه د ګوړ په رنګا

رنګ نقش او زينت منقش او اراسته کړي وو. په انواع انواع فرشونه نګارستان د چين ئې کړے وۀ په دا اميد چې شيد همايون بادشاه پکښې خوش شي څو ورځې پکښې توقف وکا. الغرض تدبير د شير خان موافق له تقديره شۀ. څو څلور مياشتې همايون بادشاه په ګوړ کښې بې له عيش او له عشرته هيڅ ونۀ کړۀ او هيڅ کس ئې و خان ته نۀ پريښۀ. شير خان په دا مدت کښې فرصت بيامونند بنارس ئې واخست او جلال خان ځوے د جلوسور (۱) ئې له پينځو زرو سورو سره په طرف د ګوړ تعين کړ چې لښکر د همايون بادشاه ته غله اوربشه نۀ پريږدي څکه په ګوړ کښې ګرانے د غلې و نهايت ته ورسيد. همايون بادشاه له اوريدو د دې خبر يعقوب بيګ او بيرم خان په سر د جلال خان چې ځوے د جلو وۀ تعين کړ ليکن په دا وخت کښې منصب د بيرم خان چندان نۀ وۀ. يعقوب بيګ جنګ وکړ شکست ئې بيامونند او شير خان، خواص خان و مونګير ته واستوۀ. چې خان خانان يوسف خيل چې همايون بادشاه په حکومت د مونګير پريښے وۀ، ونيسي. (۲) او خان خانان يوسف خيل هالۀ خبر شۀ چې خواص خان په مونګير داخل شۀ. او دے ئې ژوندے ونيو او په قيد ئې کړ او نژدې د بنارس نې په ملازمت د شير خان ورساوۀ. او شير خان لا کوټ د بنارس اخستے نۀ وۀ. په مجرد د خواص خان د رسيدو کوټ مفتوح شۀ. هغه مغل چې په کوټ کښې حصار وو واړه په قتل ورسيدل او هيبت خان نيازي او جلال خان ځوے د جلو (۳) له لښکره سره و اودهـ او لکهنو او بهرائچ ته واستول. دوي ګماشته ګان د همايون په ضرب د تيغ تر سنبله راوشړل هغه ملک ئې مصفا او مستخلص کړۀ او سنبل په دې فتور کښې په تاراج راغلے ساکنان د هغه [۱۱۵] ځائے اسير شول. او بل فوځ ئې له قطب خان نيب (۱) او د حاجي خان سره کړ او په لور ئې د جونپور روان کړ حاکم د جونپور مړ شۀ او جونپور په ضبط د پښتنو راغے او هم دا فوج و بنهر ته د کړه مانکپور لاړ شۀ. حاکم د هغه ځائے و مقابلې ته راووت، جنګ ئې وکړ کړه مانکپور (۲) او قنوج دواړه په لاس د پښتنو راغلل. په دا وخت کښې خواص خان ئې په سر دمهارته چيرو (۳) چې زميندار وۀ په نواحي کښې د بهار تعين وفرمايۀ. خنګل ئې پرې کړ او دے ئې ونيو او دا واړه ملکونه چې پښتنو له مغله رانيول تمام سامان او سرانجام ئې حاصل کړ او په جمع خاطر ئې تحصيل وکړ په دا ميان کښې خبر و همايون ته ورسيد چې ميرزا هندال په دارالخلافت اګره کښې سر په شورش پورته کړ او شيخ بهلول (۴) ورور د شيخ محمد غوث چې تر دا پخوا ئې و ميرزا هندال ته استولے وۀ مړ ئې کړ او دے د دعوت په علم (۵) کښې بې نظير وۀ. او ميرزا کامران له اوريدو د دې واقعې له لاهوره و اګرې ته راغے هرګاه چې عقيده د همايون بادشاه په شيخ بهلول ډيره وه او دے په علم تکسير (۱۵) کښې

ډیر ماهر وه ډیر افسوس او تاسف ئې پسې وکړ او په واسطه د دفع فساد د میرزا هندال په مجرد د اوریدو د دې واقعې له ګوره ئې کوچ وکړ. متوجه و دارالخلافت اګرې ته شه. شیر خان واړه خپل فوځونه بې له خواص خانه چې په سر د مهارت چیرو زمیندار ئې تعین کړې وو و حضور ته راوبلل او دا مهارت چیرو هغه وخت چې شیر خان ته مهم پیښ شه او له غلیمه مقابله پیښه شوه له خپله غره او له ځنګلو راووت رعایا ئې د بهار د پرګنې وهل او ازارول ئې او شیوه د قطاع الطریقی ئې د وراندې کړه. سنګ راه د مسافرانو د ګوړ او د بنګالې کیدهٔ او چې فرصت به ئې بیامونند اس اوښ او خر تیتو به ئې د شیر خان د لښکر بیول. خکه ئې خواص خان ونهٔ بالهٔ. الغرض تمامي لښکر د شیر خان په خوا کښې د رهتاس د قلعې جمع شهٔ. واړه اویا زره سوارهٔ او پونصو جنګي هاتیان په شماره راغلل. وائي چې یوه ورځ ئې په حضور د خپل مجلس وفرمائیل چې نن شپه ما خوب ولید چې زهٔ او همایون بادشاه له اسا کوز شو او یو لبه بله جنګ او کشتي کوؤ او یو د بله ډیر کشاکش او تلاش وشهٔ. همایون بادشاه زهٔ و زمکې ته ورسولم کهٔ څو سعي ئې وکړه چې ما له زمکې هسک کا نهٔ توانیدهٔ او ما هم زمکه نهٔ پریښوه. شیر خان وفرمائیل چې تاسو غوږ کړئ په تعبیر د دې خوب زهٔ بنا پوهیږم. دا چې همایون بادشاه په ما غالب شهٔ زهٔ به په دهٔ غالب شم. په دا چې نتیجه د خوب برعکس وي او زمکه معني د ملک ده کهٔ هر څو تالاش وکا له ما به ئې وانهٔ خلي. حاضرانو د مجلس آمین و افرین ووې او خبر و شیر خان ته ورسید چې همایون په لور د رهتاس رانغی په مفاصله ئې د دیرشو کروهو ځنګ واخست کوچ په کوچ په لور د اګرې ځي. شیر خان په دا باب لټهونه وکړه. واړو ووې چې له مخالفته د هوا د ګوړ د بنګالې بیمار او رنځور شهٔ او اکثر اسونه او سپاه ئې ضائع شهٔ او هغه چې مړ نهٔ دي په سبب د غلې د ګرانی له سورلی پاتو دي خکه مذبذب او سراسیمه په هغه طرف روان شهٔ. هر کله چې سامان [۱۱۶] د سرانجام وکا هالهٔ به فکر زمونږ د وړاندې کا. شیر خان ووې چې پخوا له جانبه دې ما واړه اخلاص او انقیاد وهٔ هالهٔ هم صورت د خلاصي نهٔ وهٔ اوس چې ملک د بنارس او د جونپور او د لکهنو او د قنوج تر سنبله او تر کالپی پورې مې د دهٔ له ګماشته ؤ نه په زور راونیولو او حاکمان مې ! هغه ځائې په قتل ورسول. صورت د نجات او د خلاصي ممکن نهٔ دي. مصلح الدین سعدي په دا باب وائي. بیت:

چه خوش گفت یکتاش با ٹیل تاش　　　چو دشمن خراشیدی ایمن مباش

فرصت د وخت غنمیت وشمارئ او قدم په کار مستحکم کړئ او فکر براصل کړې بویه، شیر خان مخ په طرف د امراګانو د سکندر او د ابراهیم کړ او وې ونیل چې کهٔ هر څو م

رعايت د بادشاه د امر وكړ او قدم مې په اطاعت او بندگۍ كېښې كېښې. دهٔ ملائمت او فروتني زما په حمل په عاجزي او په ضعف كاوهٔ. كار ئې تر دا خايه راورساوهٔ. چې لاعلاجه ئې زهٔ په سر د مخالفت او منازعت راوستم اوس پريشان او سراسيمه شهٔ خكه ئې تغافل په باب زمونږ اختيار كړے دے، خې او لښكر زما واړه مستعد او آسوده دے مصلحت څرنگ دے كهٔ بخت آزمائي وكړم او مقابل شم. اعظم همايون سرواني چې لوے امرا د سلطان سكندر او د سلطان ابراهيم وهٔ عرض ئې وكړ دا مصلحت له امراگانو د لوديو غوښتلے نهٔ بويه پ دا چې مونږ هر تدبير چې په دفع د مغلو كړے دے اخر ئې نكابت او خواري بيا و مونږ ته راجع شوي ده. اوس واړه امراگان دې تا زمونږ سره په موافقت او په مرافقت كېښې په ضد او برخلاف دي. په دا باب تدبير او مصلحت له بنائسته فكره د دوي غوښتے بويه. نور توكل په توفيق د حق تعالیٰ مدار د كار د دوي په مصلحت ايښے بويه. پس له هغه شير خان مخ په لوري د خپلو امراگانو كړ او مصلحت ئې ترې وغوښت. عيسي خان حجاب او قطب خان نيب او هيبت خان نيازي او جلال خان د جلو (۱) او شجاعت خان سور او سر مست خان سربني او نورو هم متفق اللفظ عرض وكړ چې دا رنگ وخت د فرصت له لاسه ايستلے نهٔ بويه هر گاه چې شير خان اتفاق د قوم له خانه وليد خوشحال شهٔ له رهتاسه ووت او مخ ئې په لښكر د همايون ونيو هر گاه چې همايون خبر د شير خان واوريد وجارووت. شير خان عرضداشت همايون ته وكېښ چې هم هغه بنده يم او په سر د قول او د قرار ولاړ يم. كهٔ بنگاله و جاگير كېښې و بنده ته عنايت شي طريقه د دولت خواهي به له لاسه پرې نهٔ ږدم. دا عريضه ئې مشتمل په دا مضمون و همايون ته ورستوله او خود په انبوه د لښكر د سوارهٔ او پلي په ډير سامان سرانجام كوچ په كوچ په روبرو د همايون بادشاه د لښكر په ميان كېښې د چوسه او د بكسر كلي د شهيا (۲) نام ډيره ئې د لښكر برپا كړه. دواړه لښكره په غاړه د گنگ په گودر برابر كوز شول او سوا د گنگا تر سينده يوه بله ناله په ميان د دواړو لښكرو وقع وه چې پورې وتل تر هغې بې گودره محال وو. په دا سبب چې لوے كمر ئې وهٔ او ختې لاۍ ډيرې وے كهٔ څوك بې گودره گډ شوے وے پكښې به ونښت. د دواړو لښكرو څوكي په كناره د هغه نالې ناستې وے. القصه همايون بادشاه [۷ ۱ ۱] په مضمون د شير خان د عريضې وپوهيد راضي شهٔ چې بنگاله وركا. شيخ خليل چې له بزرگو نمسيو د شيخ فريد شكر گنج وهٔ په طريق د رسالت ئې و شير خان ته واستوهٔ او پيغام ئې وركړ چې هر گاه تا بې ادبي وكړه مقابل او روبرو دې د بادشاه د لښكر ډيره برپا كړه صلح كول باعث د بې ننگۍ او موجب د نقصان د سلطنت دي. بائده دي چې بې توقف كوچ وكړے او په دا خائے مقام

اختيار نهٔ کړے. پس له هغه هر چې تهٔ
وائے هغه به په عمل راوړ شي. شير خان څو ممکن وو هومره اعتذار او احترام ئې د شيخ خليل په خائے راوړ او په ظاهر ئې اطاعت او حکم قبول کړ. هرگاه چې شيخ خليل په حضور د بادشاه د خلقو چې ورسره وو شير خان ته موعظت او نصيحت ډير وفرمايهٔ تر هسې حده چې گفتگوئ په گرمي ورسيده. په دا ميان کښې خود بخود په زبان مبارک د شيخ خليل تير شول چې کهٔ صلح نهٔ کوے پاخه وهه ئ. شير خان دا احوال غيبي فال د خپل احوال وشمارهٔ. وې ونيل هم دا رنگ به په عمل راوړم. پس نقد او جنس ئې ډير و شيخ ته عرض کړهٔ او په خلوت کښې ئې التماس په خدمت د شيخ وکړ چې غايت اخلاص او نهايت عقيدت او ارادت د پښتنو په حق د دې دودمان عاليشان د حضرت گنج شکر معلوم د عالم او د عالميانو دے اوس زهٔ په موجب د دې وسيلې او نسبت له حضرته مصلحت او کنگاش غواړم اميدوار يم هر چې نفس الامر حقيقت وي په زبان مبارک ظاهر شي. شيخ وفرمائيل پوښتنه وکړه يقين دے چې موافق د خير البشر صدر الوريٰ د فرمودې المستشار مؤتمن (۱) بې له صدق او له صوابه به بل حرف په مذکور رانهٔ شي. پس له هغهٔ شير خان التماس وکړ چې دې ما له همايونه صلح بهتره ده کهٔ جنگ؟ شيخ ښهٔ ساعت سر په گريبان د تفکر ننه يوست. نور ئې وفرمائيل چې کهٔ رښتيا وايم له بادشاه سره نفاق کيږي او کهٔ دروغ په ژبه روان شي په استشار کښې به رسم د ديانت او امانت (۲) نقصان بيامومي او خلاف به له قوله د پيغمبر ﷺ په عمل راوړ شي. اما په هر حال رښتيا بهتر شيخ وفرمائيل چې تا وته په دا وخت کښې جنگ بهتر تر صلحې دے. په دا چې لښکر د همايون بادشاه بې اس او بې وسلې شهٔ او اکثر امراگان بې جاگيره شول او جاگير ئې تا په تصرف کړ او سرباري لا حسد او عناد د ورونو دے يقين دے چې همايون بادشاه صلح د مخه له مصلحت کا. هر گاه چې خاطر ئې له جانبه د مخالفانو جمع شي او قوت او تقويت پيدا کا. اول به دې تا مهم د وړاندې کا. شير خان اقتدا په اشارت د شيخ وکړه. پس له هغې هغه څوک چې شيخ سره بادشاه راستولي وو و مجلس ته ئې وبلل او مخ ئې په لور د شيخ کړ او په اواز بلند ئې ووې چې له طرفه دې ما و بادشاه ته عرض کړئ. چې تهٔ جنگ غواړے او لښکر دې تا خواهاني د دې معنې نهٔ دے او زهٔ جنگ نهٔ غواړم او لښکر دې ما د جنگ جويانه دے. حقيقت نفس الامر دا دے نو هر چې رضا د بادشاه. دا ئې ووې نور ئې شيخ رخصت کړ. نور په تعين د فوځونو او په ترتيب د اسبابونو د جنگ مشغول شهٔ. يوه مياشت په دا گفت و شنيد تيره شوه. په دا ميان کښې خواص خان چې په سر د مهارت چيرو تعين وهٔ موافق ئې [۱۱۸] د شير خان د امر شهرت برپا کړ چې مهارت چيرو

پښتونـي کړي ده کۀ هر څو جاسوسان سعي کا مشخص او مقرر خبر ئي نۀ راوړي. نبويه چي موږه غافل کا نور په لښکر راوخيژي. شير خان دا خبر په خپل لښکر کښې مشهور کړ او په بهانه به ئي د مهارت چيرو خپل فوځونه جوړ کړۀ. دوه دري کروهه به وګرځيدل بيا به لښکر و ډيري ته روجارووت او خپلو خلقو ته به ئي وئيل چي نن ورځ هم مهارت چيرو رانغے پينځۀ شپږ ورځـې هـم دا رنګ لښـکر سوريدۀ او بيا به بيرته راتۀ او په دا روش ئي لښکر د همايون بـاشاه غافل کړ. وي به ئي سکه شير خان بل غليم په پے لري. اوومه ورځ دوه پهره شپه تيره پټ ئي سرداران د لښکر وبلل او وي وئيل چي ما په حق او په وفا د بادشاه حتي الامکان سعي او کـوشـش وکـړ. تواضع او فروتني مي په دا چي کۀ دے ما مخلص او دولت خواه وشماري، ډيـره پـه خائے راوره او قصد دي ما د سرزنش او د استيصال ونۀ کا او دے هم په هغه رنګ په پسے دي مـا د هلاکت او د سرزنش دے. اول په جنګ کښې د سلطان محمود خوي د سلطان سـکـنـدر رعـايـت مي د بادشاه د لښکر وکړ، باعث د ماتي او د شکست د لښکر شوم. او کۀ رعايت مـي د بـادشـاه د لښـکـر کـړے نـۀ وے اکثر ملک به سلطان محمود په خپل تصرف راوړے وۀ. او کـاروبـار د سـلـطـنـت هـم پـه دغـه فتـحـه موقوف وۀ چي زۀ سبب د ماتي او د شکسـت شـوم. کـۀ مـا پټـه په دغه جنګ کښې محکمه کړي وے کار په اتمام او سرانجام رسـيدلـے وۀ او هـمـايـون بادشاه برعکس نتيجه راکړه. هرګاه چي له دغه تشويش ئي فراغ د خـطـر حـاصـل شـۀ لښـکـر ئـي پـه تسخير د چنار د قلعي تعين کړ. هرګاه چي زۀ په مخالفت پاځيدم خود ئي تشريف وفرمايۀ. قلعه ئي د چنار محاصره کړه. الله تعالي رحم په مظلومی دي ما وفرمايۀ محمد زمان له قيده پاځاوۀ چي خلل ئي په پائي تخت کښې برپا کړ او له بله طرفه سـلطان بهادر بادشاه د ګجرات قصد د دهلي د تسخير وکړ از راه ضرور ئي له ما سره صلح وکړه. پـه تـنبيـه د سـلطان بهادر و ګجرات ته روان شۀ. او ما خپل خوے قطب خان له پينځو زرو سـورو سره و خدمت ته د دۀ واستوۀ او کۀ نه په دغه وخت توانيدم چي درست ملک مي خپل کـړے وے ليـکـن رعـايت مي د خپل قول او د قرار وکړو. باعث په دي کار نۀ شوم. اما هـمـايون چي له دغه سفره راوجارووت لښکر ئي په سر زما راروان کړ او ما کۀ هر څو الحاح او زاري وکـړه هـرګـز مهـربان نۀ شۀ. څو ئي قلعه د چنار او ملک د بهار له مانه رانيو او په ما پسي تر بنګالي ولاړ شۀ. هرګاه چي زۀ مطلق نااميد شوم بنا بر ضرور مي مخالفت برپا کړ او ولايـت مـذکـور چي داخـل د دۀ په ملک کښې وۀ د دۀ له ګماشته ګانو مي رانيو او هغه مغل چي پـه دي ملک کښې تعين وو په قتل مي ورسول. څو حق تعالیٰ مرزا هندال په دا کار ولاړ کـړ چي لـه دۀ سـره ئـي مخالفت آغاز کړ. شيخ بهلول چي مل د دۀ وۀ مړ ئي کړ او سر ئي په

شوروشر هسک کړ. پس يقين دے چې اوس همايون له ما سره از راه[۹ ۱ ۱] صلح مصالحه کا. او ترک د جنګ په دا سبب اختياروي چې په کور کښې غليم ور ولاړ دے نظر په تقاضا د وخت لري چې ما غافل او لري کا. آشتي نې وړاندې کړه غرض نې دا دے چې له مهمه فارغ شي هاله به فکر براصل دې ما وکا. په دا وخت کښې چې لښکر نې بې جاګيره او بې خرڅه او اسونه نې واړه مړۀ او زبون او خاطر د همايون پريشان او مشوش دے کۀ مصلحت د ورونو د عزيزانو وي دا فرصت غنيمت دے. صبا به جنګ ورسره وکړ وګورو چې څۀ پېښ شي. امراګانو د پښتنو واړو په فکر د شير خان آفرين ووې او وې وئيل چې هم دا فکر دليل دې تا د فتح او د نصرت دے. واړه قبائل د پښتنو له منازعته او مخالفته تير شول. مرافقت او موافقت نې دې تا وړاندې کړ او په دفع دې تا د غليم يکرو او يکدل شول. توکل په کرم د کريم مطلق وکړه لاس ورواچوه. شير خان له دې وئيلو کۀ پخوا خود دلاور وۀ لا دلاور شۀ. نور نې وفرمائيل چې اوس واړه و ډيرې ته وجاروځئ. سبا واړه پټ سپاهيان (۱) شئ چې له دوړه د مهارت چيرو انديښناک يم پس له څو ورځو سحر سور شۀ او په لور د مهارت چيرو په دستور سابق روان شۀ. هرګاه چې کم و بيش دوه کروهه لاړ ولاړ شۀ په اشارت د شير خان خواص خان له جوړه فوځه ورته حاضر شۀ. نور شير خان جلب ونيو او سرداران نې د لښکر وبللل ورته نې وئيل چې غرض دې ما له شهرته د مهارت چيرو د راتللو او د سورلئ دا وۀ چې هرګاه غليم خبر شي چې بل دښمن قصد د پښتنو لري غفلت به وړاندې کا. او ايمن به شي او هره ورځ سورلي به دې ما حمل په مقابلې د مهارت چيرو کا. دا واړه منصوبه دې ما غرض د مغل د غفلت وه. اوس وخت دا دے چې وجاروځئ او مخ په غليم ونيسئ. چې زمونږ له جاروتو خبر نۀ دے. بانده دې چې شرم او ننګ ناموس ته وګورئ. مردانو غوندې سعي او کوشش وکړئ چې په يوه حمله صورت د فتحې له پردې د غيب مخ ښکاره کا. پس له هم هغه ځايه نې اسونه پويه کړل څو د بادشاه اردو ته راورسيدل او باوجود د کمال حزم او دوربينی په خاطر د هيڅ يوۀ مغل تير نۀ شول چې مبادا له دې هرې ورځې سورلئ غلول زمونږ دي او ناګاه نې په مونږ وزغلوي. في الجمله په دا وخت کښې همايون په نيت د اوداسۀ وۀ حکم نې وفرمايۀ چې فوځونه دې سوارۀ شي مخامخ دې جنګ د پښتنو سره وکا. لا هنوز مغل سوارۀ شوي نۀ وو چې پښتانۀ په نخاس داخل شول. په دا واقعه کښې مرزا محمد زمان له ډيره جمعيته مقابله شۀ. او جنګ نې آغاز کړ. په يوه هله نې شکست بيامونډ وجاورت او هم په دا حال کښې مړ شۀ. نور هيچا ته تاب د مقاومت پاتو نۀ شۀ. هر چا چې اس تيار موندۀ سوريدۀ او مخ نې په تيښت نيوۀ. په دا قصد چې له اوبو د ګنګا چې پُل پرې تړلے دے يو ځل

تیر شي او هر چا چې تیار بیا نهٔ موند هم ئې قصد د پورې کیدو وکړ. همایون بادشاه لا د اودس نـه فـارغ نهٔ وهٔ چې لښکر ئې مات شهٔ. في الجمله پس له کولو د اودس محافظت ئې د صـورت غنیمت وشمارهٔ او فرصت ئې بیاموند چې حرم محترم له خانه واخلي خواجه معظم له څـو نـنو سره چې په دغه سخت وخت کښې حاضر وهٔ وائ ستوهٔ چې مریم مکاني بیګم (٢) له ځاید: خطر راوباسي. (٢١) او په طرف ئې د پُل [١٢٠] روانه کا. هرګاه چې همایون بادشاه و پُـل ته ورسید له هجومه د خلائق او له انبوهې د خاص او د عام پُل ئې شلیدلے بیاموند. اس ئې پـه سینـد ګـډ کـړ نـژدې ډوب شـوے وهٔ په همت د شمس الدین محمد غزنوي او په لیچو د بـخـت او د اقبـال له دغه خطره وخوت په سبب د دې نیک خدمتی شمس الدین (١)په لوئے دولت سرفراز شهٔ. خواجه معظم خان و خاصه دروازې ته ورساوهٔ وې لیدل چې پښتنو لاس په قتل او په لوټ ښخ کړي دي. فرصت ئې بیاموند چې په ستر کښې عالم وباسي. هم په دروازه ئې شـرط د خـان د سپـارلـو په ځائے راوړ. اکثر مغل غرق او ډیر په قتل ورسیدل او پښتانهٔ له دې لوټـه هومره دولت مند شول چې هیڅ یوهٔ ته احتیاج پاتو نهٔ شهٔ.او خاصه حرم د بادشاه په قید د پښتنو راغے. مسند عالي هیبت خان خوږے د مسند عالي عمر خان ګکهور سرواني وائي چې زهٔ هغه ورځ نژدې شیر خان ته ولاړ وم چې پښتنو دا ستر د بادشاه و شیر خان ته راوست. لـه اسـه کـوز شهٔ تعظیم او تکریم ئې د محل ډیر وکړ او تازه اودس ئې وکړ دوه رکعته شکرانه ئـې وګـزارلـه او لاس ئـې په دعا په مناجات پورته کړهٔ او وې وئیل چې الٰهي قدرت او بزرګي تـاتـه‌ښـائـي چـې مـا غـونـدې حـقیـر بنده دې په خپل لطف او کرم سرفراز کړ او په همایون غـوندې لوئے سلطان دې غالب کړ او هغه چې په خاطر د هیڅ یوهٔ بنده تیر نهٔ وو هغه په ظهور راغلې. "ما اعظم شانك و اوضح برهانك" پس له هغهٔ ئې حکم وفرمایهٔ چې نقیبان دې نارې وکا چې‌هیـڅـوک دې اهـل و عیـال د مـغـل نهٔ بندوي او خپلې ډیرې ته دې نهٔ بیائي. واړه دې د خیمې څخه د بیګم جیو (٢) جمع کا. له هیبته او صلابته د شیر خان هیڅ یوهٔ پښتون ته دا تاب او زهره نهٔ وه چې خلاف ئې د حکم اختیار کړے وے. تر مابنامه واړه مستورات د مغلو په سرا پـرد، کښـې د بیګم جمع شوے پس له هغه ئې توابع د بادشاه د محل د بیګم سره و رهتاس ته روان کـړهٔ. او حسیـن خان ئې هم ورسره بدرقه د لارې کړ (٢١) او دا واقـعـه په محرم کښې سن لصو شپږ څلویښت (٣) وه. چې پـه وقـوع راغله. القصه پس له جنګه په سبا ئې همایون پـسـې کـوچ وکـړ و قنوج ته لاړ شهٔ. پس له هغه ئې بیا خواص خان په سر د مهارته چیرو تعین کـړ.او جـلال خـان او حـاجي خان بیتهنے ئې و بنګالې ته واستول جهانګیر قلي چې له طرفه د همایون حاکم د ګوړ او د بنګالې وهٔ او شپږ زره سوارهٔ ورسره وو ډیر جنګ ئې وکړ اخر تمام

لښکر په قتل ورسید او بنګاله بیا په تصرف د پښتنو شوه. او شیخ خلیل او نور بزرګان چې پ
لښکر کښې د همایون وو په رفاقت د شیخ خلیل په مبارکبادی و شیر خان ته راغلل. وارو
عالي قدرو ته ئې موافق د استحقاق خرڅې ورکړې او رخصت ئې کړه او شیخ خلیل ئې خان
څخه وساتهٔ. مستشار او مقرب شهٔ او مسند عالي عیسیٰ خان ګکهور ئې په طریق د رسالت و
حاکم ته د ګجرات او د مالوې (۳) واستوهٔ او پیغام ئې ورته وکړ چې زهٔ به یو له خپلو فرزندانو
و دغه لور ته واستوم لائق دا دي چې په ګردونواح د دهلي او د اګرې په اتفاق دې ما د
فرزندانو شوروشر او غوغا برپا کړئ. او په دغو ورځو کښې ولایت د مالوې ملوک طوائف
[۱۲۱] وهٔ. قلعه د مالوې او د اوجین اود سارنګ پور (۱) په تصرف کښې د ملو خان وه او
خپل خان ئې په قادر شاه نامزد کړے وهٔ. او دعویٰ ئې د سلطنت کوله او حکومت د رائیسن
او د چندیرې چې دواړه قلعې دې پورن مل درلهٔ. او ولایت د ستوانش په تصرف د سکندر
میانې وهٔ او بیجانګر او بهار تعلق په بهوپال (۲) درلهٔ. القصه حاکمانو د مالوې اطاعت او
حکم د شیر خان قبول کړ او متعهد د امداد او د اعانت شول. او عرضداشتونه مشتمل په
اطاعت او انقیاد ئې ورستول اما ملو خان له ډیره حماقته او بې فرمانۍ مهر ئې د خط په مخ
وواههٔ خط ئې واستوهٔ کهٔ هر څو خپلو مخلصانو له دې بې ادبی منع کاوهٔ منع نهٔ شهٔ. هرګاه
چې خط د دهٔ په نظر د شیر خان راغے مهر ئې د دهٔ له خطه څیرے کړ او وئ ساتهٔ او وې وئیل
چې یوه ورځ به بازپرس د دې بې ادبی وشي. اما حاکمانو د ګجرات په خواب کښې د شیر
خان د خط دا رنګ وکښل چې بادشاه زمونږ هلک او خورد سال دے او امرایان یو د بله
مخالفت او منازعت لري او مسافت په میان کښې ډیر دے. کومک د دیه تر هغهٔ نهٔ رسي.
شیر خان په وخت د جاروتو د مسند عالي عیسیٰ خان او هغه پښتانهٔ په ګجرات کښې پریشان
احوال وو دلاسا او استمالت ئې ورکړ. او له ځانه سره ئې روان کړ او سکه او خطبه ئې په
خپله نامه آغازه کړه او په خطاب د شیر شاه ئې خپل ځان مخاطب کړ. او په باب ئې د خان
خانان یوسف خیل وفرمائیل چې دا حادثې او سختی چې و قوم ته زما له مغلو رسیدلي دې واړه
سبب ئې دے وهٔ او کهٔ همایون بادشاه په وئیل د دهٔ عمل کړے وهٔ هیڅ یو پښتون به په
هندوستان کښې پاتو نهٔ وهٔ. پس په مرګ ئې د دهٔ حکم وکړ او قطب خان چې د شیر شاه
خوږے وهٔ په طرف ئې د مالوې (۳) روان کړ چې په اتفاق د حاکمانو د هغه ځائے په ګردونواح
د دهلي خلل برپائ کا او همایون بادشاه و دارالخلافت اګرې ته روان شهٔ. مرزا عسکري او
هندال ئې په تدارک او سرزنش د قطب خان تعین کړهٔ. هرګاه چې لښکر د مغل ورغے، قطب
خان و جنګ ته ورووت. په مرتبه د شهادت مشرف شهٔ. مغل له سوبې (۴) سره په ملازمت د

هماون مشرف شول. پس له هغه همایون په قصد د جنګ و قنوج ته ئې کوچ وفرمایۀ. له دې طرفه شیر شاه سرانجام د لښکر جوړ کړ او په جنګ ورته روان شۀ. په ګردونواح د قنوج دواړه لښکره جمع شول او سیند د ګنګا ئې تر میان وۀ. څلور میاشتې په دا حال تیرې شوې او لاخواص خان په ملازمت د شیر شاه له مهمه د مهارته چیرو راغلے نۀ وۀ. شیر شاه و همایون بادشاه ته پیغام واستوۀ چې تر کومه به بې ځایه ناست وو او اوقات به عبث تیررو. بهتر دا دے چې یو له مونږه غاړه د دریاب پریږدي. یو څو کروهه پستنه ډیره ونیسي چې دویم په جمع خاطر له دریابه پورې وځي او په جنګ مشغول شو همایون بادشاه له ډیره تجبره او تکبره (۵) خواب ورکړ چې تۀ له ګودره د سیند پستنه واړوه. شیر شاه غاړه د سیند پرېښوه. دولس کروهه ئې پستنه واړولے. همایون بادشاه پُل [۱۲۲]په سیند وتاړۀ پورې شۀ شیر شاه بیا کوچ وکړ. په مفاصلې د یو کروه ئې و همایون ته ډیره ونیوله. وائي چې هرګاه لښکر د همایون په نظر د شیر شاه راغے، له اسه کوز شۀ دوه رکعته نفل ئې وګزارل دعا ئې وکړه او لاس ئې په مناجات پورته کړۀ. او په بانګ بلند ئې وونیل چې یا عالم الغیب والشهادة کۀ رفاهیت او جمعیت د خلق الله په خلافت د همایون بادشاه وي فتح دۀ ته ورکړه او شیر شاه په دا وخت کښې پے در پے و خواص خان ته وکښل چې وخت د کار دے زر راځه. دے نۀ راتۀ او په خواب کښې ورته وکښل چې څو له دې مهمه خاطر جمع نۀ کړم درتسونے نۀ یم. او دې خبر په طرفین د لښکر شهرت موندلے وۀ چې جنګ سلطاني معطل په راتلل د خواص خان دے. پس له وژلو د مهارته چیرو خواص خان مال احوال د مهارته چیرو په خپل لاس کړ په ملازمت د شیر شاه راروان شۀ. هرګاه چې خواص خان پینځلس کروهه نژدې و لښکر ته د شیر شاه راغے وې وئیل چې جنګ د دواړو بادشاهانو په سر د دهلي په سبب زما غوندې غلام موقوف دے. او دې خبر شهرت موندلے دے. پس زۀ چې بې دستبرده په لښکر داخل شم خلق الله به څۀ وائي نور ئې هم له هغه ځایه په شپه شبخون په لښکر د همایون وکړ. ډیر خلق ئې زخمي او مړۀ کړل او لوټ ئې هم ډیر وکړو. نور داخل په لښکر د شیر شاه شۀ. په سبا ورځ چې ورځ د عاشورې لسم د محرم الحرام سن انصو اووۀ څلویښت وۀ جنګ طرفین مقرر وۀ. دواړو لښکرو فوځونه اراسته کړۀ او د جنګ ځائے ته راغلل. همایون بادشاه تردي بیګ او بیګ برې او محمد فرملي او میر یوزکاؤ مردانه او محمد صاحب مردانه په وړاندیني صف مقرر کړۀ. او موید بیګ ئې له اوو نورو لویو امراګانو سره په مقدمه تعین کړ او مرزا هندال په کین طرف او مرزا عسکري ئې په ښي لور تعین کړ. او شیر شاه وړاندینے صف په هیبت خان نیازي او اعظم همایون سرواني ګکهور (۱) او قطب

خان لودي او حاجي خان او بلند خان او يوسف خان سرواني (۲) او بجلي خان سرواني او آدم خان بيتني وغيره (۳) وسپارۀ. او په مقدمه ئي خواص خان او عيسىٰ خان نيازي تعين كړ او په ښي لور ئي جلال خان چې د دۀ خوږے وۀ مقرر

كړ او په كين لور ئي جلال خان د جلو شين زے او عادل خان چې مشر خوږے د شير شاه وۀ او قطب خان نيب او برمزيد گور (۴) او رائ حسين جلواني قائم كړۀ. پس له ترتيبه د لښكر ئې و پښتنو ته وونيل چې اے وروڼو نتيجه او فائده د اتفاق له گزشته خلقو زده كړئ. مردانو غونديې يكدل كوشش وكړئ. بيت:

دو دل يک شود بشكند كوه را پراگندگی

او ما عزم جزم كړے دے چې له دې جنگه پسته قدم اخستونے نۀ يم. يا به نصرت او فتح بياموم يا به خان په ننگ كښې وسپارم. بيت:

چنان رو سوئے خصم در رزم گاه كه يا سر دهی يا ستانی كلاه

في الجمله طرفين په جنگ كښيوتل او اور د جنگ سربلند شۀ. خواص خان مقدمه د همايون بادشاه ماته كړه. اما مرزا عسكري فوج د ميمنې د پښتنو له خايه هسک كړ ليكن هيڅا پښه [۱۲۳] له خايه پسته نۀ كړه. او لكه غر هسې په خائے ولاړ وۀ. په دا ميان كښې شير شاه شكست د خپلې ميمنې د فوځ وليد. دۀ غوښتل چې په مدد ئې ور روان شي اما قطب خان لودي عرض وكړ چې تحرک او تبديل د مقام په دا رنگ وخت كښې مناسب نۀ دے او فوځ د ميسرې د شير شاه چې سردار ئې عادل خان وۀ په اتفاق ئې د قطب خان نيب فوځ د ميمنې د همايون بادشاه چې مرزا عسكري ئې سردار وۀ مات كړ خو ئې په فوځ خاصه د همايون ورپشت. (۱) په دا ميان كښې فوځ د ميمنې د شير شاه چې شكست ئې موندلے وۀ فوځ ئې د همايون بادشاه په ميان كښې كښيوست. هيبت خان نيازي او خواص خان هغه ورځ نهايت مردي او پهلواني ښكاره كړه. شكست او ماتې په لښكر د همايون گډه شوه او همايون بادشاه خود په نفس نفيس ډير شجاعت او تهور ښكار كړ اما وئ ليدل چې جدوجهد سود نۀ كا په مضمون د دې بيت د شيخ سعدي چې ئې فرمائيلي دي شا ئې ورته كړه. بيت:

چو بينی كه ياران نه باشند يار هزيمت ز ميدان غنيمت شمار

او نظامي (۲) په خپل تصنيف (۳) كښې كښې چې ورځ د جنگ معينه نۀ ده. (۴) هر گاه چې هغه شپه باران ډير وورېد لښكر د همايون بادشاه په دا قصد چې ډيره له دې لاهې او له چيقره واخلي په بلند خائے ووهي په دا سبب تمام لښكر په خيژولو (۵) د ډيرو مشغول شۀ. په دا ميان كښې شير شاه قابو بياموند هله ئې وكړه مغل تار په تار ماتې گډه كړه. مصنف مذكور

وائي چې باعث د همايون د شكست تغير د مكان او باران وۀ. والله اعلم بالصواب. همايون بادشاه له مخه د ضرور شا ورته كړه چې په سر د پُل ورغے له ډيرې انبوهۍ پُل شليدلے وۀ او له ډيرې پريشانۍ خلق الله لكه خس و خشاك په مخ د اوبو بهيدل او په سيند د فنا غرقيدل لاچار همايون هم اس په سيند ګډ كړ او په دا وخت كښې موسم د پشكال وۀ. سيند د ګنګا ډير ختلے وۀ. همايون له اسه جدا شۀ. ماشكي په پوكلي مشك سور وۀ همايون ئې وپيژند له سينده ئې و غاړې ته وكيښ. (٦) او شير شاه په فتح فيرزوی مظفر او منصور شۀ. (٧) دوه ركعته نفل ئې شكرانه د پروردګار ادا كړۀ او وې فرمائيل چې نن شپه مې په نيت د استخارې وظيفه او ورد ډير وكړ سحر مې دا رنګ په خوب وليدل چې يوۀ پير لاس دې ما او لاس د همايون نيولے وۀ. هغه مجلس ته چې رسالت پناه سيد الوریٰ محمد مصطفي ﷺ ناست وۀ او واړه انبياء او اولياء د چارچاپيره ورته صف زده حاضر وو ور وَستو. پير عرض وكړ چې يا رسالت پناه سلطنت د هندوستان له همايونه تغير او په فريد مامور شۀ. حضرت رسول الله ﷺ وفرمائيل چې ورځه خلق الله له عدله او له انصافه محروم مۀ پريږده. او هغه تاج چې په سر د همايون وۀ په سر دې ما ئې كښيښ او دا خواب مې پخوا تر فتح په دا نۀ وايۀ چې خلقو به دا ګمان كړے وۀ چې دا وئيل د شير شاه واړه دپاره د خپل مطلب او د جنګ دي. (٨) القصه شجاعت خان [١٢٣] ته ئې چې حاكم د بهار وۀ فرمان ورستوۀ چې زر ولاړ شه ګوالير محصره كړه. او قاصد ته ئې ووې چې زنهار چې خبر ئې د خوې د مرګ چې جنګ كښې مړ شۀ ورته ونۀ وائے. چې باعث به د دۀ د تاخير شي.(١) شجاعت خان په موجب د حكم ولاړ شۀ قلعه د ګوالير ئې محاصره كړه او برمزيدګور ئې له بنۀ جمعيت په همايون پسې تعين كړ اما ورته ئې وفرمائيل چې جنګ ورسره مۀ كوه او نصير خان ئې په سرانجام د سنبل تعين كړ پس له شكسته همايون بادشاه كوچ په كوچ و اګرې ته ورسيد و مير سيد رفيع الدين ته ئې وفرمائيل چې ماته پښتنو شكست راكړے نۀ دے په خپلو سترګو ما ليدل چې غيبي مردانو لښكر دې ما واهۀ څو ئې مات كړ او سرهند كښې ئې هم و ميان مجد الدين سرهندي ته دا وئيل هرګاه چې لوئے امرايان او ورونه د همايون په دا پوهيدل چې پس له دا (٢) به د دوې په هندوستان كښې مقام د ارام نۀ وې خكه ئې د جنګ په كار كښې كوتاهي وكړه په دا سبب كار تر دې حده ورسيدۀ. في الجمله شير شاه مخالفت د ورونو او د امراګانو معلوم كړ له قنوجه ئې په طرف د دارالخلافت اګرې كوچ وفرمايۀ. همايون بادشاه په اګره كښې استيدے نۀ شۀ لاهور ته روان شۀ. او برمزيد و اګرې ته راغے ډير مغل ئې چې هورته بياموندل مړۀ ئې كړل. شير شاه دا كار له دۀ پسند نۀ كړ او ډير ئې ملامت كړ. او خود ئې په همايون پسې

کوچ په کوچ و دهلي ته نزول وفرمایهٔ. څو ورځې ئې په دهلي کښې توقف وکړ نور شیر شاه خواص خان او برمزید گور او آدم خان بیټنی په همایون پسې تعین کړهٔ او مسند عالي عیسی خان گکهور ته ئې حکومت او حراست د سنبل وفرمایهٔ. قبول ئې نهٔ کړ شیر شاه حکمي په قبول د دې خدمت پرگنه د کانت کوله په طریق د بنهنک و عیسی خان ته مرحمت کړه او پینځهٔ زره اضافه (۳) ئې ورکړه. (۱۳) هرگاه چې عیسي خان و سنبل ته ورسید بیرم خان چې مهردار د همایون بادشاه وهٔ له لښکره جدا شوے وهٔ. په رفاقت د عبدالوهاب خوې د میان عزیز الله سنبلي چې له دانش مندانو د هغه وخت وهٔ دواړه بزرگان په ورځ د ماتې له لښکره جدا شول و سنبل ته لاړل. میان عبدالوهاب له ملاحظه د حاکم نهٔ توانیدهٔ چې بیرم خان ئې خان څخه ساتلے په مترسین ئې چې راجا د لکهنو وهٔ وسپارهٔ چې څو ورځې ئې مخفي وساتي نصیر خان چې پخوا حاکم د سنبل وهٔ دا ځل هم له عیسي خان سره تعینات و سنبل ته وهٔ چې خبر شهٔ. (۴) مترسین ته ئې وفرمائیل چې بیرم خان حاضر کړه. مترسین قوت د مقاومت نهٔ درلهٔ لاعلاج ئې بیرم خان راوست او په نصیر خان ئې وسپارهٔ. په دا میان کښې نصیر خان قصد د دهٔ د مرگ وکړ. میان عبدالوهاب رابطه د آشنائي له وخته د سلطان سکندر د مسند عالي عیسي خان سره درلهٔ. حقیقت ئې د بیرم خان و عیسي خان ته مشروعاً ووې. مسند عالي عیسي خان بیرم خان له نصیر خانه وبالهٔ. او په تعظیم او په تکریم ئې ځان ته راوست. پس له هغه ئې مترسین حاضر ضامن واخست په مترسین ئې وسپارهٔ او وعده ئې ورسره وکړه چې هرکاه و شرف ملازمت ته د شیر شاه روان شم استعفا به دې تا د گناهونو له شیر شاه وغواړم. او په شرف د ملازمت به دې سرفراز کړم. پس له مدته مسند عالي عیسي خان بیرم خان له خانه څخه روان کړ په اوجین کښې ئې په ملازمت د شیر شاه سرفراز کړ شیر شاه ووې چې [۱۲۵] تراوسه چرته وهٔ. عیسي خان عرض وکړ چې د میني کره د شیخ مهلي قتال وهٔ. شیر شاه وفرمائیل چې بنه خون مې ئې ز مهلي قتال ته وباخښهٔ. عیسي خان عرض وکړ چې هرکاه خون دې شیخ مهلي قتال ته وباخښهٔ بنهٔ اس او سروپائ دې زما په خاطر ورته عنایت شي. شیر شاه تبسم وکړ اس او سروپائ ئې ورته عنایت کړ. مسند عالي عیسي خان هم حکم واخست چې محمد قاسم (۱) چې له طرفه د همایون بادشاه قلعه دار د گوالیر وهٔ دلاسا او استماله ئې کا او حضور ته ئې راولي چې راروان شهٔ محمد قاسم په لارې گوارو مړ کړ او بیرم خان و گجرات ته لاړ شهٔ. له هغه ځایه په سفارش د شیخ گدائي خوې د شیخ جمالي کنبو په ملازمت د همایون بادشاه مشرف شهٔ. او په اول حال د اکبر د سلطنت جمله کاروبار حواله په دهٔ وهٔ. میان عبدالوهاب او شیخ گدائي او راجه مترسین په ملازمت ورته

راغلل بیرم خان ډیر عنایت او رعایت په باب د دوي وفرمایهٔ. او په دا ورخو کښې عیسي خان هم حیات وهٔ بعضو یارانو ورته ووې چې بیرم خان حق حقوق د اشنایي ښهٔ په خاتے راوړي که خان هم لـه دهٔ سره ملاقات وکا یقین دے چې حق د خان د احسان به ئې هم فراموش نهٔ وي. عیسي خـان وونیـل چـې عـمـر دې مـا قـریـب د سـلو کالو شهٔ او تمام عمر مې په عیش او په عشرت او پـه عـزت او په دولت تیر کړ. هیڅ حظ او لذت د دنیا راخخه پاتو نهٔ دے. اوس دا څـو دمـه چـې لـه حیـات مستعاره راته پاتو دي نهٔ ښائي چې په سبب د دنیا خپل خان مطعون د خاص و عام کړم او په دا عمر کښې خدمت د مغلو اختیار کړم. او بل طلب د احسان دا ښیوه د فـرزنـدانـو د مسـنـد عـالـي عمر خان نیب نهٔ ده. نقل دے له دائم محمد بنوري (۲) نـه او له عبـدا لـمـؤمـنـه چـې زوم د میـر دائم وهٔ او دواړه مصاحبان د بیرم خان وو هرګاه چې به نوم د مسند عالي عیسي خان په مجلس کښې ذکر شهٔ بیرم خان به ووې چې کهٔ مسند عالي یو خل تشریف راوړي و یارانو ته وفرمائي زیات کاروبار او عزت او دولت به تر شیر شاه او تر اسلام شاه ور ته عنایت شي. القصه هرګاه چې شیر شاه و دهلي ته ورسید عیسي خان ئې په حکومت مـقـرر کـړ لـکـه پـخـوا مذکور وشهٔ او حاجي خان ئې په میوات سرفراز کړ او خود متوجه و لاهور ته شهٔ او ولایت د سرهند ئې په جاګیر و خواص خان ته ورکړ. په دا میان کښې همایون بـادشـه و لاهور ته راغے او له مرزا کامران سره ئې اتفاق د ملاقات حاصل کړ او واړه امراګان ئـې پـه تـعـظیم د هر طرف ورته راغلل جمع شول کهٔ هر څو جهد او سعي په باب د شیر شاه د مـقـابلـې هـمایون بادشاه په تقدیم راوړه اتفاق ئې یو د بله په صورت د دې مطلب نهٔ تاړهٔ. هر کـس ګـوښـے ګـوښـے فکر او خیال درلهٔ څکه په لاهور کښې هم استوګه ورته میسر نهٔ شوه. شیـر شـاه لـه اوریـدو د دې خبـر ډیـر په تعجیل و لاهور ته کوچ وفرمایهٔ. لاهور کښې ئې دوه درې مقـامـه وکـړهٔ نـور مخ په وړاندې روان شهٔ. درې منزله له لاهوره وتلے وهٔ چې خبر ورته راغـے چـې مـرزا کـامران له همایونه جدا شهٔ په لار د چوباري (۳) پـه لور د کابل ولاړ شهٔ. او هـمایون بادشاه په غاړه د آب راوي په طرف د ملتان کوچ وفرمایهٔ. او شیر شاه و خوشاب (۴) تـه راغـے. لـه هـغـه خـایـه ئـې خـواص خـان او حاجي خان او حبیب خان او قطب خان نیب او سـرمست خان او جلال خان [۱۲۶] جلو او عیسي خان نیازي او برمزید ګور په همایون پسـې تـعین کړ او ورته ئې وفرمائیل چې جنګ مهٔ کوئ اما تر سرحده د ولایت وروپسې ځئ. پس له هـغـه نـرې راوجاروو ځي. فوځونه د شیر شاه په مفاصله د یوهٔ منزل وروپسې تلل خبر راورسید چـې مغل اووهٔ ځایه شول خواص خان ووې چې په رکاب کښې د شیر شاه امراګان کم دي نهٔ بویه چې فوځ د مغل پیر وکا دوي هم دوه فوځه شول خواص خان او عیسي خان نیازي وغیره

لـه دریابـه د خوشاب پوري شول کناره ئې د سیند په مخکښې ونیوه او قطب خان نیب وغیر
په طرف د هغهٔ متوجه شول. مرزا ګان چې له همایونه جدا شوي وو او په طرف د کابل روان
وو نـاګـاه چـې لښـکر د خواص خان پیښ شهٔ تاب ئې د مقاومت رانهٔ وړ تیښت ئې د وړاندې
کـړ او نښـان او هـم نـغارې ئې پرېښولې او ډېر مغل ومړل. دې په تیښت خلاص شهٔ. خواص
خـان لـه هغه ځایه وجاروونت. ملازمت ئې د شیرشاه په خوشاب کښې حاصل کړ. شیر شاه یو
مـدت پـه خـوشـاب کښې توقف وکړ. څو اسماعیل خان او فتح خان او غازي خان بلوڅ ورته
راغـلـل او مـلازمت ئې وکړ. شیر شاه بلوڅو ته وفرمائیل چې اسونه په داغ ورسوئ چې زما د
لښـکـر سـرشتـه او ضـابـطـه ده. اسماعیل په ځواب کښې عرض ورسول چې تمام لښکر دې
اسـونـه پـه داغ د بـادشاه مزین کا او زهٔ به داغ د بادشاه په خپله اوږه (١) کیږدم. دا خبره چې
تـواضـع نمط وه شیر شاه ډېر خوښ شهٔ. داغ ئې د اسماعیل خان معاف کړ او ولایت د سنده
ئې په دهٔ وسپارهٔ او تمامې پښتانهٔ د روه په تهنیت او مبارک بادي شیر خان ته راغلل. واړه ئې
په انعام او په اکرام سرفراز او بهره مند کړهٔ. او رخصت ئې ورکړ او له واړو زمیندارانو د هغې
نواحي رائ سارنګ ګهکړ (٢) پښـه پـه لمن کښې د استغنا وڅکوله. شیر شاه ته رانغې شیر
شاه وفرمائیل چې هسې میخ به په سینه د ګهکړ ټـک وهـم چې تر قیامت بنخ پاتو شي. یعنې د
دوي پـه ملک کښې به هسې کوټ بنا کړم چې هم دوي سر خوزولې نهٔ شي او هم لار د مغل
د تـلـو راتلو بند شي. نور ئې قلعه د رهتاس (٣) بـرپا ئې کړه او نوم ئې د دغه کوټ کښیښ او
ډېـر لښـکر ئې په سر د رائ سارنګ تعین کړ. فوځ د بادشاه دغه سرزمین تاخت او تاراج کړ
او لـونـه ئـې د رائ سارنګ په بند بندي کړې. شیر شاه لونه د رائ سارنګ و خواص خان ته
وبـخښلې. وائي چې رائ سارنګ څو توبري د غشیو او څو دمداره ببري ورته راستول. او په
بـل روایت څو څرمنې د مزري او څو سپي ئې ورته نذر کړهٔ چې همیشه کار روزګار زمونږ دا
دې شیـر شاه ته دا کار ناپسند ښکاره شهٔ. القصه له دستبرده د غازیانو عاجز شهٔ. پس له ډېرې
خـرابـی عـاجـز او پـریشـان شهٔ راغې شیر شاه ته حاضر شهٔ. حکم ئې وفرمایهٔ چې پوست ئې
وکـاږئ او د بـوسو ئې ډک کړئ چې سزا د خپلې [١٢٧] جزا بیامومي. پس له هغه تودر نا
کهتـري تـه ئـې وفرمائیل چې په عمارت د رهتاس د قلعې دې مشغول شي. وائي چې تودر نا
کهتـري عـرضـداشـت وکیښ چې دا ملک د ګهکړو دې هیڅوک نهٔ پرېږدي چې مزدوري
اختیـار کـا بـلکې یو د بله ئې قسم کړې دې چې هر کس چې مزدوري اختیار کا جلا وطن به
ئـې کـا. شیـر شـاه ورتـه وکښـل چـې معلومه شوه چې سربراهي د کار دې تا له لاسه نهٔ راځي
مـردک زردوسـت ئـې نـهٔ غـواړې چـې ګـفتار زما ثبات د سرانجام ونیسي. هرګاه چې تودر

فرمان د عتاب وليد اول مرتبه ئې يو کانې په مهر مقرر کړ. گهکړ په طمع د زرو هومره رجوع شول چې کانې په روپۍ قرار ونيو. رفته رفته کانې په پينځه تورې مقرر شۀ څو کوټ تيار شۀ.
شير شاه ته هم په دا ورځو کښې په نواحې د آب بهت (١) چې دې ورته په سيل او په ښکار مشغول وۀ خبر ورسيد چې خضر خان سرک حاکم د بنګالې لور ئې د سلطان محمود په خپل نکاح کړه او په طريق د بادشاهانو پاس په بالاخانه کښې نشست و برخاست کا. شير شاه ته دا بې ادبې پسند رانغله. خواص خان او هيبت خان او عيسې خان نيازې او حبيب خان کاکړ او .ائ حسين جلوانې ئې په کوټ کښې د رهتاس پرېښول او خود ئې په لور د بنګالې کوچ وفرمايۀ. هر ګاه چې و دهلې ته ورسيد محل ئې د همايون بادشاه له قلعې د رهتاس په تمام اعزاز او اکرام طلب کړۀ او کالا پهاړ لوحانې ئې ورسره کړ او سرانجام د ډولې او د سورلې او غيره اسباب لکه محل ته د بادشاهانو بنائې ورته ئې اماده کړۀ. او کابل ته ئې په همايون پسې روان کړ (٢) القصه هرګاه چې شير شاه هورته ورسيد خضر خان سرک شرف د استقبال حاصل کړ پس له هغه ئې په تازيانې د ادب تنبيه کړ. په قيد ئې کړ او په ځائې د دۀ ئې بل حاکم قائم کړ او قاضې فضيلت چې په خلو د عوام قاضې فضيحت مشهور دے امين ئې د بنګالې د ملک کړ او خود ئې مراجعت و دارالخلافت اګرې ته وفرمايۀ. له هغه نه په لارې د ګواليرپه طرف د مالوې متوجه شۀ. هرګاه چې ګوالير ته ورسيد محمد قاسم چې له جانبه د مغلو قلعه دار وۀ کنجې د ګوالير ئې په خدمت راوړه او ملازمت ئې حاصل کړ هرګاه چې ملک د مالوې ملوک الطوائف وۀ. شجاعت خان ته حکم وشۀ چې و رائسين (٣) ته لاړ شې پورنمل دلاسا کا او مشرف ئې په ملازمت کا. شجاعت خان قلعې ته د رائسين لاړ پورنمل ئې و خدمت ته راوست په دا شرط چې هم په اول مجلس کښې رخصت بيامومې. پورنمل د شپږو زرو سورو سره چې هيڅ يو سور په عمر تر ځلوېښتو کالو ورغلے نۀ وۀ ورغے او ملازمت ئې حاصل کړ. صل يو اسونه او صل سروپايونه ورته عنايت شول. او هم په اول محلس کښې ئې رخصت کړ او خپل وررور چتر بهوج ئې په خدمت کښې پرېښې. شير شاه له هغه ځايه و سارنګپور ته متوجه شۀ. وکيل د ملو خان راغے عرض ئې وکړ چې راپسې ملو خان هم راځي. شير شاه شجاعت خان په استقبال د دۀ واستوۀ. و ملازمت ته ئې راوست. پس له ډيره التفاته ئې ورته ووې چې ډيره دې چرته نيولے ده. عرض ئې وکړ چې جريده راغلے يم ډيره مې ستا آستانه د بادشاه ده. په دا وخت [١٢٨] کښې دوه سوه سوارۀ د ملو خان سره راغلې وو له ليدو د دې لښکره او له کثرته د حشمت او د ابهت حيران شۀ. او وهم پرې غالب شۀ چې دا قسم لښکر ئې ليدلے نۀ وۀ او له سازولو ئې د کليان د قلعې

لا ئې حيرت د ملو خان (۱) زياتي کړ. في الجمله ولايت ئې د کالپي په جاگير کېتې د ملو خان مقرر کړ. او د شجاعت خان سره ئې تعين کړ. په وخت د رخصت ملو خان عرض وکړ چې بـاربرداري نۀ لرم حکم وشۀ چې صل اوښان او صل قچرې له سرکاره ورکانئ. ملو خان هـغـه سـاربانان او قچر بانان په شرابو مست کړۀ نور په شپه وتښ. سبا د وخته چې خبر و شير شاه ته ورسيد في البديهه مصرع ئې ووې فرد:

ملوغلام گیدی باما چه کرد دیدی

عبدالحئ خوږے د شيخ جمالي کنبو حاضر وۀ بله مصرعه ئې في البديهه ووې مصرعه:

قولیست مصطفیٰ راالا خیرفی العبیدی (۲)

شيـر شـاه لـه تښتيـدو د ملو خان په شجاعت خان معترض شۀ او ورته ئې وکښل چې اول دې فـرصـت ولـې ورکاوۀ چې وتښتيد او بيا ورپسې لاړ نۀ شوے؟ بانده دي چې څو دے رانۀ ولے هـومـره و مـلازمـت تـه نـۀ راځـے شجاعت خان مطابق د فرمان چې په ډير تاکيد ورته کښلے شـوے وۀ. ورپسې روان شۀ. اما په لاس ئې رانغے په ضرور ترې راوجاروت. شير شاه په دۀ بـدمـظـنـه شـۀ ولايـت د مـالـوې چـې ئـې په جاگير د دۀ ورکړے وۀ تغير ئې کړ هنډيه (۳) او ستوانس (۱۳) چـې جاگير د څلورو زرو سورو وۀ په جاگير ئې د دۀ مقرر کړ او باقي ملک ئې د مـالوې په جاگير د دريا خان او د عالم خان لودي چې له بادشاهه د گجرات آزرده په قصد د اوجين او د سارنگپور و ملازمت ته راغلي وو ورته ئې عنايت کړ او حاجي خان او صدر خان خرسين (۴) ئـې پـه بهـار کښې پريښۀ او فوجدار ئې د مالوې کړ او خود ئې په لارې د رنتنبور (۵) و دارالخلافت اگرې ته نزول وفرمايۀ. خان خانان نوميدۀ له طرفه د ملو خان په قلعه کښې د رنتنبـور وۀ. لـه قـلعې راکوز شۀ ملازمت ئې وکړ او کنجي ئې د کوټ په وکيلانو د سرکار حواله کړه. شير شاه قلعه د رنتنبور شهزاده عادل خان ته عنايت کړه. په دا ميان کښې سکندر خـان پـه حـد د سـتـوانـش راغـے. مـلازمت ئې وکړ شير شاه دے په قيد کړ په سبب د دې چې امـداد او مـدد ئـې و قـطـب خان خوي د شير شاه ته ورکړے نۀ وۀ. او مغلو مړ کړ نصير خان ورور د سـکـنـدر خـان مـلـک د مالوې خالي وگانۀ په دا قصد چې شجاعت خان جمعيت کم لـري جـنـگ ورسـره وکـا. ژوندے ئې ونيسي او په عوض ئې د خپل ورور قيد کا. چې هرگاه شير شاه ورور د دۀ پريږدي هاله به شجاعت خان له قيده خلاص کا. له شپږو زرو سورو او له دوه سـوه مسـتـو هـاتيانو سره په سر د شجاعت خان راروان شۀ. او دغه زمان له شجاعت خان سـره دوه زره سوارۀ وو له لښکره د نصير خان دريو تنو يو ميان عمر او بل سيد طاهر او دريم کوبنکران (۶) يـو د بـلـه قـول او عهد وکړ چې بې له شجاعت خانه په بل گزار کړے نۀ بويه.

شجاعت خان له کثرته د غليم او له کمي د خپل جمعيت ملاحظه ونهٔ کړه توکل ئې په کرم د کريم وکړ په نواحي د نيل ګهړے (٧) وهٔ. نبنان ئې د مقاومت بلند کړ. او په تمام شدت طرفين جنګ واقع شهٔ. [١٢٩]تر هسې حده چې لښکر ئې د شجاعت خان له ځايه وخوزوۀ. هغو دريو تنو اسونه پرې وزغلول. چا په نيزه چا په خنجر واههٔ. يوهٔ په توره هسې رنګ په مخ وواههٔ چې دوه غابنونه ئې ومړې مات شول او نيزه تر زغرې ورپريوته. په اړخ ئې ورښخه شوه. شجاعت خان په دا هسې حال کښې زړهٔ په ځائے کړ په توره ئې لاس د هغه تورزن پريکړ او هغه نيزه باز جهجهار خان چې خاص خيل د شجاعت خان وهٔ په يوهٔ ګزار له اسه پريوت او دريم سور مبارک خان سړبنې په غشي پريوست. نور نبنان د شجاعت خان چې مغلوب او سرنګون شوے وهٔ بيا ئې بلند کړ. او فوځ چې شکست موندلے وهٔ بيا ئې پير وکړ او له هر طرفه ئې حمله په نصير خان راوړه تاب ئې د بهادرانو د تيغ رانهٔ وړ مخ ئې په تيښته ونيو. دوه سوه مست هاتيان له نوره نقده جنسه په لاس د شجاعت خان راغلل. پس له فتحه په جانب د هنډيه روان شهٔ. چې بيا و هنډيه ته راغے دورته شهرت وشهٔ چې ملو ملعون حاجي خان په کهتکړه (١) کښې حصار لرې. په دا ميان کښې شجاعت خان په کومک د حاجي خان وررورسيد ملو ملعون ئې مات کړ. ملو له جنګه مخ وجاريوست و ګجرات ته روان شهٔ.
هر ګاه چې دا خبر و شير شاه ته ورسيد حاجي خان ئې وبالهٔ او مالوه ئې دروبست و شجاعت خان ته تفويض او تسليم کړه. او ملک د ستوانش په جاګير ئې و شمس خان او پهاړ خان او منير خان ته چې عزيزان او اقارب د شجاعت خان وو ورکړ. پس له هغه شير شاه له دارالخلافت اګرې نه په قصد د بنګالې کوچ وفرمايهٔ. هر ګاه چې و بهار او پټنې ته ورسيد سخته بيمارې ورته عارضه شوه. په دا بيمارى کښې ئې افسوس کاوهٔ او وئيل ئې چې دريغه له دې رنځه مې صحت بيامونده چې و قلعې ته د رائيسن ولاړې او پورنمل حاکم مې د هغه ځائے نيست و نابود کړے. چې دست درازې ئې په ارتينو د مسلمانانو کړې ده. او انواع انواع ظلم و ستم ئې په دې قوم روا کړے دے او هم په دا بيمارى کښې ئې په ځان نذر ثابت کړ چې کهٔ حق تعالىٰ صحت کامل راته عطا کا هم له دې ځايه به مراجعت وفرمايم چې انتقام د مسلمانانو له دغه سمتګاره رانيسم. خداوند تعالىٰ په يُمن د دې نيک نيت صحت کامل ورته ارزانې کړ. شير شاه مطابق د نذر کوچ وفرمايهٔ. په سن د انصو پنځوس و مالوې ته ولاړ کوټ ئې د رائيسن محاصره کړ او هم په دا ميان کښې عرضداشت د خواص خان له پنجابه راغے چې په ميان زما او د هيبت خان نيازې مخالفت پيدا شهٔ. نهٔ بويه چې مهم او مدار د بادشاه قصور او فتور بيامومې. صلاح د کار دا دے چې له مونږه دواړو يو تن و حضور ته وبالهٔ

شي. شير شاه خواص خان او عيسىٰ خان او حبيب خان کاکړ و حضور ته راوبلل او حکومت
ئې د پـنجاب و هيبت خان ته ورکړ او امر ئې وفرمايهٔ چې ملتان دې له بلوڅانو (٣) رانيسي او
فتـح خـان نيازي دې دستگير کا او دا فتح خان د کوټ قبول (٣١) وهٔ چې ولايت ئې د لکهي
ځنگل (٣ ب) وران کـړ او تـر لاهوره او تر ډيلي پورې ئې بادشاهي لار گډه وډه کړه. او خلق
الله لـه لاسـه د دهٔ په درگاه د شير شاه استغاثه او فرياد راوړے وهٔ. هيبت خان په موجب د حکم
پـه مهـم د فتـح خـان روان شـهٔ. پس له ډيره جنگه فتح خان [١٣٠] شکست بيامونند ملتان په
تـصرف د هيبت خان راغـے. هرگاه چې اهل و عيال ورسره وهٔ گرندے تبنتيدے نهٔ شهٔ. هرگاه
چې فتح پور او کهر (١) ورته ورسيد مسند عالي هيبت خان پسې ورغے لاچار شهٔ په هغه قلعه
د کهر ورننووت متحصن شهٔ. هيبت خان قلعه محاصره کړه. پس له څو ورځو فتح خان عاجز
شهٔ. نمسے د قطب (٢) عالم شيخ فريد رحمة الله عليه په ميان کښې واستوهٔ او خود هم راغـے
هيبـت خان ووې زهٔ بنده يم بې د شير شاه له حکمه هيڅ کولے نهٔ شم. فتح خان دې په قيد شي
هـر چې حکم مجدداً (٣) رانشـي پـه هـغـه بـه عمل کوو يو له امراگانو د بلوڅو (٤) چې ميدو
نـوميـدهٔ لـه فتح خان سره ئې اخلاص او محبت صميمي وهٔ له يوهٔ نفره چې سعيد نوميدهٔ په هر
صـورت لـه لښکـره چې وهٔ ووت اهل د قلعه ئې له قيده د فتح خان اگاه کړ کوټ ئې ټينگ
کـړ پـه دويـمه ورځ قهراً او جبراً کوټ مفتوح شهٔ او اکثر اهل و عيال اهل د قلعې پخپله مړهٔ
کړهٔ. (٥) هر چې باقي پاتو شول په دا ميان کښې بخشو لنگاه ولگيد ميدو بلوڅ ئې په خدمت
د مسـند عالي هيبت خان راووست. (٦) او ښهـر د مـلتان بمعه مضافات او نواحي په تصرف د
هيبـت خـان راغـے او لـه ظلمه د بلوڅانو (٧) تـمـام ولايت د ملتان خراب او ويران شوے وهٔ.
مـسـند عالي هيبت خان په ډير کوشش بيا آبادان کړ او حقيقت ئې د ملتان د تسخير په تفصيل
عـرضـداشت کړ شير شاه هيبت خان په خطاب د اعظم همايون سرفراز او ممتاز کړ او ستر
سـراپـرده او ډيره ئې ورته عنايت کړه او حکم اعلىٰ صادر شهٔ چې ولايت د ملتان دې له جمل
تـکـليـفـه مـعاف وي. څلورمه حصه د غلې دې په سرکار کښې ورکوي. په لږ مدت ولايت
مـلتـان آبـادان شـهٔ. اعظم همايون فتح جنگ خان په حراست او نگهباني د ملتان پريښ. فتح
جـنـگ خـان پـه دغه ولايت کښې يو ښهر آباد کړ او نوم ئې سيکري کښېښ او په دا فرصت
کښـې شيـر شـاه پـه مـحاصره د رانسين د قلعې متوجه وهٔ او حکم ئې دا رنگ کړے وهٔ. چې
پښتـانـهٔ دې غشيـو او ټوپکو ته په نژدې د قلعې نهٔ ورځي. په دا چې بې وجه وينې تَلې نهٔ شي
(٨) او پـه حسـن تـدبيـر قلعه په تصرف د اسلام رائشي. وائي چې يوه ورځ اميرزادگانو جشن
تـرتيـب کـړے وهٔ او لـه هـره طرفه خبرې گيدے څو مذکور د مردي او د شجاعت راغـے يو

ووي چې نن ورځ پــه برابر د پورنمل د لښکر څوک نشته په مردانګی. په دا چې هره ورځ میـدن تـه راشـي او پهلوانان و جنګ ته بولي. باوجود چې زمونږ په لښکر کښې له هره قومه خوانـان شتـه او هیڅ یو غیرت نهٔ لري چې په مقابلې ورو ځي وارو دولت او خواني او غرور د جهـل افـغاني درلهٔ یو د بله ئې قول قرار وکړ چې سبا به بې د شیر شاه له حکمه و جنګ ته ور ورځو او مـړانـه د غـلـیـم بـه وآزمایو. نور ئې پیغام ورستاوهٔ چې اے راجپوتانو تاسو همیشه له قـلـعې راوتې لاف او ګزاف مو کاوهٔ او جنګ وته مو خوانان بلل. نن ورځ صبر له مونږه ولاړ شـهٔ. بـې لـه حـکـمه د بادشاه راغلي یو هر څوک چې مړني ګنې و میدان ته ئې راوباسئ. چې وبله داد د مړانې وکړو. (۹) پورنمل راجپوتان چون کړهٔ په هغو چې ئې ډیر امید وهٔ و میدان ته نـې راویستـل او خـود پاس په برج کښیناست نندارهٔ ئې کوله. پښتنو او راجپوتانو له غیرته او لـه تـغـضـبـه او لـه ډیـره خجالته یو د بله اور د جنګ ګرم کړ او هومره کوشش او کشش ئې طرفین وکړ چې ښو خوانانو ګوتې د تحیر په غاښونو د تفکر [۱۳۱] چیچلے او په خپل عجز او قصور معترف شول. تر نیمې ورځې پورې هیڅ یوې طائفې قدم له میدانه پستنه وانخست. هر ګاه چې قوت د اسلام مل د پښتنو وهٔ عاقبت ئې کافران فاجران په وهل وهل او په پرېنستل پـرېنستـل پـه کـوټ نـنـه ئیستل. شیر شاه له اوریدو د دې خبر په باطن خوښ او په ظاهر چې خلاف د دهٔ له امره وهٔ په عتاب شهٔ. یو څو ورځې ئې واړه له خپله نظره مهجور کړهٔ پس له هغه ئې هـر یـوهٔ تـه مـوافـق د تردد مرتبه او سرفرازي ورکړه. نور شیر شاه توپونه له نورو کوټونو راوغـوښتـل او پـه بـلـنـدو دمدمو ئې کښېښول. کافرانو ته ځائے د دم زدن پاتو نهٔ شهٔ. او په دا مـدت سرنګونه هم د کوټ و خوا ته ورسیدل نور ئې له دارو ډک کړهٔ اور ئې ورته کړ په هر طـرف دیـوال د کوټ والوت. پورنمل پس له شپږو میاشتو چې کوټ محاصره وهٔ عاجز شهٔ مـلازمـت تـه راغـے قصد د شیر شاه دا وهٔ چې ارتینې د مسلمانانو په کوټ کـښې محاصره دي ونهٔ مري. په دا سبب ئې ورته وفرمائیل چې بنارس مې تاته درکړ. اهل و عیال خپل راوباسه او بـنارس ته ئې بوځه. او ارتینې د مسلمانانو چې دې تا په محل کښې شته هم هغه واړه حاضرې کـره. پورنمل عرض وکړ چې ارتینې د مسلمانانو دې ما په محل کښې نشته کهٔ وي د راجا په مـحـل کـښـې بـه وي. کهٔ حکم وي چې لاړ شم راجا ته ووایم؟ شیر شاه حکم ورکړ پورنمل و کـوټ ته ولاړ ځان ئې و سوؤ ته جوړ کړ او شیر شاه ته ئې پیغام واستوهٔ چې راجا ځان و سوؤ تـه جـوړوي کـهٔ شـهـزاده عـادل خـان او قـطـب خـان نـیـب مغلظ قسم وکا او مونږ په شرف د مـلازمـت بې له ضرره د مالي او ځاني سرفراز کا دا سول او مړل به تر میانه پاځي. شیر شاه په دا قـصد چې په دا سول کښې ارتینې د مسلمانانو ونهٔ سوزي چې پټ کوشش د دهٔ له جانبه هم

دا وهٔ. شهزاده عادل خان او قطب خان نیب ئې واستول چې هر قول و اقرار چې ممکن وي ورسره وکا. او رائې ولي. دوي و قلعې ته لاړل او په عهد و پیمان ئې له کوټه راوستل او ځائے ئې و دوي ته په ځنګ کښې د اردو معین کړ. په دویمه ورځ واړه رعیت د چندیري او د هغه نواحي له ارتینو او له هلکانو سره راغلل او فریاد ئې وکړ چې مونږ له دیو کافرانو رنګارنګ ظلم و ستم لیدلے دے. لوڼو خویندو ته ئې زمونږ رقص ښیهٔ او په حضور به ئې د کافرانو ګډولے. ډیر مدت وشهٔ چې له حق تعالیٰ مو په ډیره عاجزی او زاری دا غوښتل چې بادشاه عادل او دیندار په سر زمونږ تعین کا چې غور او خصمانه زمونږ وکا حق تعالیٰ تهٔ محض دپاره د دې کار بادشاه کړے شیخ سعدي شیرازي فرمائیلي دي بیت:

حکمت محض است اگر لطف جہان آفرین   خاص کند بندہ اے مصلحت عام را

نن ورځ کهٔ په داد زمونږ ونهٔ رسے سبا به په قیامت لاس زمونږ او دې تا لمن وي. خاطر عاطر د شیر شاه له اوریدو د دې خبرو په جوش راغے او رقت ئې زیاتي شهٔ. پس له هغه ئې قاضي د صدر او مفتي حضور ته طلب کړهٔ ورته ئې وفرمائیل چې په باب د دې کافرانو چې په قول او په سوګند مې له کوټه راکوز کړهٔ او اعمال د ذوي اظهر من الشمس دي. په دا باب موافق د آیت او د حدیث فتویٰ راکړئ. شیخ خلیل او میر سید رفیع الدین اوغیره متفق اللفظ شول او په عرض ئې ورسول چې په بادشاه د اسلام لازم واجب دي چې نظر په حق د دوي په قرار او په سوګند ونهٔ کا. کافران [۱۳۲] فاجران دې نیست و نابود کا. پس له هغه بادشاه و عیسي خان حجاب ته حکم وفرمایهٔ چې له مستو هاتیانو او له ډیرو ځوانانو سره ولاړ شه دیره د کافرانو په مثال د مرکز په میان کښې حصاره کړه تر هسې حده چې هیڅ یوهٔ متنفس ته مجال د تیښتې پاتو نهٔ شي. پس غازیان د اسلام په څلور طرفه راغلل باران ئې د غشیو پرې وکړ پورنمل سر د خپلې معشوقې چې رتناوتي نومیده پریکړ، ویښتهٔ ئې د سر تر لاسه تاؤ کړهٔ او سر ئې و حضور ته د راجپوتانو راوړ او وې وئیل واړه خپلې ارتینې دا رنګ پخپله ووژنئ. کافران په وژل د ارتینو سر شول. لښکر د اسلام لاس په تیغ بې دریغ کښیښ. په طرفة العین کښې ئې و جهنم ته واستول او باقي ارتینې چې له مرګه په څهٔ سبب پاتو شوے وے په بند ئې کړے. په دغو ارتینو کښې یو خورد ساله جلی لُور د پورنمل وه په لاس راغله هغه بادشاه په رقاصانو وسپارله چې رقص ورته تعلیم کا. (۱) پس له هغه شیر شاه قلعه د رائسین په شهباز خان چې خور د یوسف خان اچاخیل وهٔ وسپارله. او خود ئې و دارلخلافت اګرې ته مراجعت وفرمایهٔ. پشکال ئې په اګره کښې تیر کړ نور ئې په لار د اجمیر کوچ وفرمایهٔ چې راجا مالدیو (۲) په دا تفرقه کښې مغل له لال سوته او له جودهپوره او له چاتوره (۳) چې په حساب د

ممالک محروسه وو ایستلي وو. دا بنهرونه ئې په خپل تصرف راوړي وو او په مقدار د پنځوسو زرو سوارهٔ او لک پیاده ئې جمع کړي وو او دم ئې د نخوت او د برابرۍ واههٔ. شیر شاه په قصد د دهٔ د سرزنش او استیصال توجه وفرمائیله وائي چې په دې مهم کښې هومره سپاه لاندې تر نښان د دولت جمع شوې وو چې کهٔ په بلند ځاے څوک وختلے نظر و لښکر ته وکړے په هیڅ طرف ئې حد حدود نهٔ معلومیدهٔ. او پیرانو دیرینه سالو وئیل چې دا رنګ لښکر په هندوستان کښې په هیڅ وخت جمع شوے نهٔ وهٔ. في الجمله شیر شاه په دا عظیم لښکر له دارالخلافت اګرې و فتح پور ته ولاړ شهٔ او حکم ئې وفرمایهٔ په هر منزل به ئې چارچاپیره تر لښکره قلعه د خاورو سازوله څو په یو ځائے ورغے چې ډیر ریګستان وهٔ له شګو قلعه نهٔ سازیده. شیر شاه په دا کار کښې متحیر شهٔ. و شیر شاه ته ځوي د عادل خان شهزاده چې لا خورد سال وهٔ محمود خان نومیدهٔ (۴) په عرض ئې ورسول چې خورجئ د شګو ډکې کا او یو د بله دې سوروي قلعه به سازه شي. شیر شاه د دې هلک فکر په صواب ولید وې فرمائیل دا کار ئې په عمل راوړ قلعه ئې سازه کړه سر او سترګې ئې د نمسي ښکل کړے او ډیر آفرین ئې پرې ووې. نور په سر د مالدیو چې حاکم د ناګور او د جودهپور وهٔ او په واړه راجګانو د هندوستان په کثرت د سپاه غالب وهٔ کوچ ئې وفرمایهٔ او دې له پنځوسو زرو سورو په نواحي د اجمیر و مقابلې ته راغے. اخر الامر شیر شاه مکر او حیله برپا کړه له طرفه د جیتا او د ګوپا چې تمام کاروبار او وزارت د مالدیو تعلق په دوي درلهٔ خطونه ئې په دا مضمون وکښل چې بادشاه دې په خاطر شریف هیڅ واهمه او دغدغه نهٔ راوړي او په کولو د جنګ دې سستي او اهمال نهٔ روا کوي. [۱۳۳] مونږ واړه خدمتګاران (۱۰) د بادشاه یو په عین جنګ کښې به مالدیو په اتفاق د لښکر دستګیر په خدمت حاضر کړو. دا خطونه شیر شاه په سرور خلطو کښې واچول او په لاس ئې د جاسوس ورکړهٔ او ورته ئې وفرمائیل چې په هسې ځائے چې رهګزر د مالدیو وي دا خطونه واچوه. په هر صورت چې وو خطونه په لاس د مالدیو راغلل. مطالعه ئې کړهٔ ډیر وویرید او اعتماد ئې له خپله لښکره پاڅید هغه درنګ ئې مخ په تیښت ونیو. جیتا او ګوپا او امراګان ورپسې ورغلل کهٔ هر څو ئې قسمونه وکړ چې مونږ له دیو خطونو مطلقاً خبر نهٔ یو مالدیو قبوله نهٔ کړه. دا لښکر د مالدیو شیر شاه په یوهٔ تدبیر تار په تار کړ. شیخ مصلح الدین سعدي فرمائي بیت:

بر آرند رویین پاے جوانان به شمشیر و پیران براے

جیتا او ګوپا چې په تمام هندوستان کښې ئې ثاني د تورې نهٔ وهٔ له ډیره غیرته او په اظهار د خپلې راستۍ او درستۍ نظر ئې په تیښت د مالدیو ونهٔ کړ له شلو زرو سورو سره په اتفاق له

اسـونـو كـوز شول او يو د بله ئې لمن غوټه كړه. كشتي ئې په ميدان د جنګ آغازه كړه. هـر ګـاه چې خبر د مالديو د تيښتي و شير شاه ته ورسيد ډير خوشحال شۀ او وې فرمايۀ چې دا كافران خربيشان او كړون (٣) حساب كړئ او په غشيو او په تورو ټوټې كړې. حق تعالي دا بدبختان په غشيو د اسلام كښې يستلي دي. او هيڅوک دې دوي په نيزه او په توره نۀ وهي او شيـر شـاه خـود پـه دسـتـور سـابق په خيمه كښې ناست په اوراد او په وظيفه مشغول وۀ. او غـازيان په قتل د كافرانو سرګرم شول. كار په هسې ځائے ورسيد چې لښكر د بادشاه مذبذب شـۀ زر وه چـې شـكـسـت ئې مونډلے وے. په دغه وخت كښې يو افغان مجهول نژدې و تنبو ته ورغـے په پښتو ژبه ئې ورته زيړې وكړے او فرياد ئې وكړ چې اے خانه خرابه كافرانو لښكر د اسـلام مـات كـړ او تـۀ پـه عيش او په عشرت كښې ناست يې. اوس به كافران لاس په اردو د بـادشـاه پورې كا. شير شاه دا ګفتار واوريد ليكن هيڅ ئې ونۀ وې او په لوستۀ د قرآن مشغول وۀ. پـه اشارت ئې اس وغوښت. پس له ورده سور شۀ ليكن خبر ورته ورسيد چې خواص خان او نـور لښـكـر د بادشاه جيتا او ګوپا له تمام فوځه د كافرانو نيست و نابود كړۀ. او سقر ته ئې ورسـتـول. تـر هـسـې حـده چې له شلو زرو سورو يو تن پاتو نۀ شۀ چې يو د بله ئې پخپله خپلې لـمنې ګنډے كړے وے شير شاه له اوريدو د دې شجاعت او ميړنتوب ډير تعجب شۀ. القصه پـه هـغـه سـبـا چـې جيتـا او ګـوپـا غـازيـانـو وژلل قصد ئې د شبخون كړے وۀ په دا ميان كښې جـاسوس راغـے او شير شاه ته ئې خبر راوړ چې جيتا او ګوپا له شل زره سورو سره له لښكره د مالديو راغلل او په نيمې شپې به شبخون په لښكر د بادشاه وكا. شير شاه التفات و جاسوس ته ونۀ كړ تغافل ئې د وړاندې كړ. هر ګاه چې درې ګړى شپه تيره شوه عيسي خان ئې وبالۀ چې نـن شپـه مـخـالـفـان قصد د شبخون لري او جاسوسانو د جيتا نزول دې ما د لښكر په دا ځائے لـيـدلـے دے حقيقت به ئې ورته وئيلے وي. مصلحت دا دے چې موږ له دې ځايه كوچ وكړو پـه يـوه لـور درې څلور كروهه له دې ځايه واړوو چې غليم ډيره زموږ په خپل ځائے ونۀ ويني پـريشان او پښيمان او روګردان (٤) بـه شـي. الـغرض [١٣٤] پس له هغه هم هغه وخت تمام لښكر ورو ورو كوچ وكړو. دوه كروهه په بنې لاس ئې ډيره ونيوه. وائي چې عين زمستان وۀ درسته شپه هغو بدبختانو لار غلطه كړه او سردى (١) تر هسې حده مات ګډ كړۀ چې لاس ئې لـه كـاره او پښـې ئـې لـه رفتاره پاتو شولے. علي الصباح مقابل د غازيانو شول لكه مذكور ئې وشـۀ. تـر يـوۀ پهـره د ورځې واړه نابود او عدم شول. پس له هغه شير شاه مسند عالي خواص خـان او عيسـيٰ خـان نيـازي لـه نـورو امـراګانو سره په ملک د مارواړ پريښول. او خود ئې و دارالـخـلافـت اګـرې ته مراجعت وفرمايۀ. خواص خان نژدې و جودهپور ته ښهر بنياد كړ او

نوم ئې خواص پور کښېښې. هم هورته ئې اقامت ونيو. هغه ملک ئې له خاروخسه د مفسدانو کـافرانو پاک او مصفا کړ او مالديو وتښتيدو و قلعه ته ئې د ابهو پناه يووړ. پس له هغه شير شاه له دارالخلافت اګرې نه کوچ وفرمايۀ. او په تسخير د چتوړ د قلعې روان شۀ. رانا کونجئ (۳ د چتوړ و شيـر شاه ته راستولے. شير شاه پاس په قلعه وخوت د وتو د ننوتو لار ئې وکته. شـمشير خـان وروړ د خـواص خان ئې هورته پرېښې او خود ئې اراده د کچهواړې (۴) وکړه. امـراګـانو عرض وکړ چې موسم د پشکال په سر راغے چرته توقف وفرمايه چې لائ او چيقړ کم شـي. شيـر شـاه وفرمائيل چې زۀ به پشکال په هسې ځائے تيروم چې لږ ډير کار مې هم له لاسه کيـږي. خـکـه ئـې پـه طـرف د کـچهـواړې چـې په ملک کښې د مالوې واقع وه کوچ وفرمايۀ. او شهزاده عادل خان په رخصت د سير او د ښکار په لور د رنتنبور (۵) د قلعې حکم واخست او شـجاعت خان ته چې حاکم د مالوې وۀ وې ونيل چې زۀ په تسخير د کالنجر (۶) خم چې هـورتـه غلبه د کافرانو ډيره اوريدۀ شي. هرګاه چې فتح د کالنجر د قلعې واورے بې تـوقف امرايان چې تعينات د مالوې او د مارواړ دي له خانه روان کړه. او متوجه د دکن شه. او پـس لـه فتـح د دې قـلـعـې نښان د سلطنت او طغ د بادشاهي په دغه حدود رسيدلے شماره او شـجاعـت خـان ته ئې اس او هاتي ورکړ رخصت ئې کړ او خود په لور د کالنجر روان شۀ. په اوړ مـنـزل خبر ورته راورسيد چې عالم خان په ملک کښې د ميرتهه (۷) باغي شۀ. شير شاه وغـوښتـل چـې دغه لور ته کوچ وفرمائي ليکن پخوا تر رايات عاليات خواص خان وررسيد. عالـم خـان نـې مړ کړ. پس له هغه شير خان په حوالي او ګردونواح د کالنجر ورسيد. کيرت رائ (۸) چې ضابط د کالنجر د قلعې وۀ کوټ ئې ټينګ کړ او پکښې متحصن شۀ. شير شاه په سازول د دمدمو او د سرنګونو حکم وفرمايۀ. په لږ مدت ئې ورځخه بله قلعه بنياده کړه. په ويشتـل د تـوپـو او د تـوپکو هغه کوروته چې په قلعه کښې آباد وو ويران ئې کړۀ. هرګاه چې تـعـريف ئـې د يـوې ويـنځې چې په حرم کښې د راجا وه هم د رقص او هم د حسن تدبير شير شاه اوريدلے وۀ په دا سبب ئې نۀ غوښتل چې قلعه په زور و ضرب رانيسي او ملاحظه ئې دا وه چې مبادا دا راجا او اهل د قلعې ځان و سوۀ ته جوړ کا او هغه وينځه هم ورسره وسوزې خکه ئې تلوار په اخستل د قلعه ونۀ فرمائيله. پس له هغه په تاريخ [۱۳۵] د اتم مياشت د ربيع الاول ورځ د جـمعې سن انصو دوه پنځوس وۀ پس له يوۀ پهره او يوه ګړۍ ورځ تيره شوه. شير شاه ميـل و طعام ته وفرمايۀ. پس له طعامه ئې عالمانو او حاضرانو ته د مجلس وفرمائيل چې جنګ جدل د کافرانو سره څرنګ فائده لري. شيخ خليل او شيخ نظام وفرمائيل چې هيڅ يو عبادت لـه جهـاده او لـه غـزا د کافرانو برابر نۀ دے کۀ د مسلم له لاسه کافر مړ شۀ مسلمان غازي او

کۀ مسلمان مړ شۀ شهید شۀ. پس له هغه شیر شاه خود په دمدمه وخوت په خپل حضور ئې خو حقې و قلعې ته وغورزولے نور کوز شۀ. هغه ځائے چې حقې اینبے وے وې فرمائیل چې حقې پریږدئ. په دا میان کښې یوه حقه د قلعې په دیوال ولګیده پستنه وجاروته بیا په هغه نورو حقو ولګیده. په یوۀ ځل تمام آتش بازی اور واخست. شیر شاه او شیخ خلیل او مولانا نظام دانشمند او دریا خان سرواني په یوۀ ځائے ولاړ وو دري واړه وسول. شیر شاه ئې په پالکی کښې کښیناوۀ او خیمې ته ئې راوړ پس له هغه ئې عیسیٰ خان حجاب او سعید خان ګکهور چې زوم د عیسي خان وۀ وۀ ئې بلل ورته ئې ووئیل چې څو زۀ ژوندے یم خبر د قلعې د فتح و ماته راورسوئ. دوي په موجب د حکم لښکر ئې خبردار کړ او له هر طرفه متوجه په قلعه شول. هرګاه چې وخت د نمازدیګر شۀ مسلمانانو فتحه وکړه کافران ئې نیست و نابود کړ خبر ئې د کوټ د اخستو و شیر شاه ته راوړ او هانګ نماز ئې د اسلام واورید شکر ئې د پروردګار وکړ چې آرزو مې دا وه چې خدایٔ تعالیٰ پوره کړه. نور ئې خان و حق ته تسلیم کړ او له دار فنا و دار بقا ته ئې رحلت وفرمایۀ. کیرت رایٔ راجا د کالنجر ژوندے ونیو شۀ او په قید ئې کړ. هرګاه چې اسلام شاه په تخت د سلطنت کښیناست اول قضا چې مخ ښکاره کړ وژلل د کیرت رایٔ وو او تاریخ د شیر شاه د واقعې خوي د شیخ جمالي کنبو په دا طریق موندلے دے او په خاص په عام کښې ئې شهرت شوے دے. مثنوي:

شیر شاه آن کہ مہابت او شیر آب بہم میخورد
چونکہ رفت جہان گشت تاریخ "زآتش مُرد"

ذکر د اسلام شاه د سلطنت: چې خوے د شیر شاه وۀ (۲) هرګاه چې شیر شاه دار بقا ته رحلت وفرمایۀ عیسیٰ خان او سعید خان ګکهور او جمال خان او شیخ محمد ګکهور چې ډیر مقرب او محرم وو یو ځائے ورغلل او وې وئیل چې په باب د سلطنت څۀ کړي بویه؟ عیسي خان حجاب ووې واقعي مخ ښکاره کړ چې زمونږ له شهزادګانو یو هم حاضر نۀ شۀ. دا هم نۀ معلومیږي چې کار به د سلطنت په وجود شریف د کوم یوۀ قرار ونیسي. شیر شاه همیشه نظر د سلطنت په عادل شاه شهزاده درلۀ. او له خپله حضوره ئې نۀ جدا کاوۀ. په دا وخت کښې هغه کم طالع حاضر نۀ دے. او په سیر او ښکار د رنتنبور د قلعې مشغول دے. او بعد ٥ مسافت د دوۀ سوۀ کروهونو په میان لري او جلال خان شهزاده له دې ځایه په پینځۀ ویشت کروهه ناست دے لیکن دې له ما نه په دا سبب آزرده دے چې عاجزه دې ما ئې دپاره د محمد خان ورور د خضر خان چې خدمت د آبداری او د پانو د بیړو د جلال خان تعلق په دۀ لري غوښته. هرګاه چې دے د کف نۀ وۀ دا معنیٰ ما قبوله نۀ کړه. جلال خان بدمظنه شۀ او ماته ئې پیغاد

وکړ چې کۀ د محمد خان سره نسبت د خوېښی نۀ کوے کوم پښتون [۱۳۶] دا تريخے لري چې دې تـا لـور وغـوارې په ناسته ناسته به زړه شي. ما دا مقدمه په عرض د شير شاه معروض کړه شير شاه په دا باب عتاب وفرمايهٔ او منع ئې کړ. اوس دا ملاحظه په خاطر لرم چې نۀ بويه چې خـواهان د انتقام شي او ما ډير خله له شير شاه نه اوريدلي دي چې زۀ دوه ځامن لرم اما يو هـم شـائسته د سلطنت او فرمان روايی نۀ دے په دا چې عادل خان په لهو و لعب مشغول او په کـار د سـرکـار سـر گرم او مقيد نۀ دے او خلافت او سلطنت کار عظيم دے او جلال خان ډير کيـنـه ور او غضب ناک دے او دا خصلتونه نامرضيه منافي د سلطنت دي. شيخ مصلح الدين سعدي فرمائي بيت:

سر پر غرور تحمل تهی حرامش تا شهنشهی

گـوره حق تعالي روادار په څۀ شي اما جلال خان محنتي او مشقتي دے او اقبال هم لري عيسي خـان حجاب ووئيل غرض دې ما دا دے چې کار د بادشاهی له خاندانه دې مونږ د ولي نعمت و بـل تـه انتـقـال ونۀ کا. مصلحت دې تاسو څۀ دے؟ واړو ووئيل چې عادل خان اگر کۀ مشر دے امـا فـراغت دوست او عيش خواهان او کاهل دے مهمات به د سلطنت له لاسه د دۀ روان نـۀ شي او جلال خان اگر کۀ کشر او غصه ناک دے اما فيروز جنگ او شير حمله دے او هم لـه اوضـاعه او له احواله د دۀ معلوميږي چې مشيت او اراده د پروردگار متقاضي د جلال خان د سـلـطـنـت شي چې غفران پناه شير شاه به هميشه عادل خان ځان څخه ساتۀ چې متصدي او متـکـفل د امور سلطنت وي. اوس چې شير شاه له دې عالمه کوچ وفرمايۀ عادل خان له مونږه ډيـر بُـعـد او مسـافت لري. او جلال خان به بې توقفه او بې اهماله له اوريدو د دې واقعې خپل خـان پـه دوه پهـره دلتـه راورسـوي. او يـقيـن دے چـې دا رنـگ واقـعـه په هيڅ وجه پټه پاتو کيـدونـې نـۀ ده پس اعيان دولت او ارکان سلطنت بنا بر ضرور دې و استقبال ته د دۀ ورشي. او زيـن پـوښـې د انـقيـاد او بـنـدگـي دې په خپلو اوږو وځکوئ. او تخت د سلطنت او تاج د خـلافـت به په شريف وجود د دۀ مزين او اراسته کا چې تمام بندوبست د عالم وابسته په ذات د بـادشـاهـانـو دے کۀ يوه لحظه جهان له ذاته بابرکاته د دوي بې بهره او عاطل پاتو شي تـمام مهـمـات او کـاروبار به د خاصو او د عامو خللي او ضائع شي. ځکه مقرر او مشخص دي چې هـرگـاه بـادشـاه رحـلت وکا هر يو چې له خاندانه د سلطنت حاضر وي نظر ئې په صغر سن او کشـر والـي نـۀ کا په تخت د سلطنت ئې کښينوئ. او منتظر و راتلو ته د بل چې تر دۀ مشر او زورور وي نـۀ اوسـي لـکـه اوس تر دا پخوا پس له وفاته د سلطان بهلول لودي مشر او لائق له نسه د پښتنې باربک شاه وۀ چې تعينات د جونپور وۀ هرگاه چې واقع په قصبه د کول جلالي

مخ ښکاره کړ (۱) نظام کشر څوړے د دهٔ وهٔ چې له بله حرمه وهٔ له دهلي نه ئې په يوه ورځ خپل خان و لښکر ته د سلطان بهلول ورساوهٔ په تخت د سلطنت کښيناست او په خطاب د سلطان سکندر ملقب شهٔ. او هم له گزشته ؤ تاريخونو معلوميږي چې پلار ئې په سبب د بعد او د مسافت له تخت د سلطنت پاتو دے او څوړے ئې په سبب د نزديکت په تخت د سلطنت ناست دے. لکه کيقباد معزالدين (۲) چې په وخت د وفات د نيکهٔ حاضر وهٔ سلطنت ئې بيامونند او ناصر الدين (۳) په واسطه د بعد [۱۳۷] او مسافت په دولت د خلافت مشرف نهٔ شهٔ. (۱) او دلته خو د جلال خان وړور دے او نهايت غضب ناک دے او غيرتناک دے. په هيڅ وجه به په سلطنت د عادل خان راضي نهٔ شي په دا سبب به ډيرې اودې فتنې بيدارې شي. پس صلاح د دولت دا دے چې په سلطان د جلال خان ساعي شئ. او خان د دهٔ مطيع او منقاد کړئ. او هغه دغدغه او وسواس چې پخوا په سبب د خويښۍ مذکور شهٔ (۲) په دا رنګ لوئے دولت خواهي او خير خواهي کښې هيڅ قدر او بار نهٔ لري. او ډيرې دښمنۍ دي چې په يوهٔ نيک کار صورت د دوستي ونيسي هم دا رنګ اخلاص او محبت قديمي په لږ خلاف سره په دښمنۍ ورسي. مصلحت دا دے چې په دا رنګ باطل وهمونو ترک د اخلاص نهٔ اختياروئ او عقل او تدبير له لاس نهٔ پريږدئ. شيخ محمد گکهور و مسند عالي عيسي خان ته ووئيل چې مقدمه کوتاه کړه. بې توقف په خدمت د جلال خان التماس مشتمل په قدوم سعادت لزوم د دهٔ راستوه. عيسي خان حجاب ووئيل هو مصلحت هم دا رنګ دے. پس دوه عرضداشته ئې وکښل يو عادل خان او بل جلال خان ته. هغه چې ئې عادل خان ته کښلے وهٔ په لاس ئې د محمود خان څوي د عادل خان روان کړ چې په تلوار و پلار ته ورشه. عرضداشت ئې تر نظر تير کړه. او حقيقت د احوال ورته عرض کړه. چې په تعجيل تمام خان دې اردو ته د بادشاه ورسوي چې جلال خان شهزاده نژدې دے شايد چې سبقت او پيش دستي وکړه. کاروبار او مدار د سلطنت و دهٔ ته رجوع کا. په دا بهانه ئې محمود خان له دې معرکې ويوست چې په حقيقت د احوال واقف نهٔ شي او دويم عرضداشت ئې و قاصد ته ورکړ چې په خدمت ئې د جلال خان ورسوي او ورته معروض کا چې واړه امراګان د شير شاه منتظر د قدوم سعادت لزوم دي او تشريف د سلطنت او خلعت د خلافت دي تا په وجود شريف مبارکه وي :بلا معطل راروان شه او خان و اردو ته د بادشاه راورسوه او تخت و تاج په خپل ذات شريف مزين او اراسته کړه. جلال خان په مجرد د دې خبر لکه رسم د عالم وي ملال او ګريان شهٔ پس له هغه ئې خپل خيرخواهان او امراګان وبلل او مصلحت ئې ترې وغوښت. واړو عرض وکړ چې په ... خپل خان رسوه. جلال خان ووئيل کهٔ په تعجيل روان شم هغه فوځونه چې

پـه غزا او په جهاد د کافرانو مشغول دي واړه به کافران او فاجران مړهٔ کا. په دا سبب ئې دوه ورځـې معـطلي وکړه او فوځونه ئې له مقابلې د کافرانو وبلل. هر گاه چې و ملازمت ته راغلل هـالهٔ په ډیر اقبال او وقار متوجه د اردو ته د بادشاه شهٔ. او په پینځمه ورځ داخل په لښکر شهٔ. عیسـي خان حجاب او واړو مقربو امراگانو چې خبر ئې د شیر شاه د واقعې پټ ساتلے وهٔ واړه اعیـان ذ سـلـطـنـت ئـې وبـلـل او ورتـه ئې ظاهره کړه چې جلال خان شهزاده نژدې راغـے کهٔ مـصـلـحـت وي و استقبال ته به ئې ورشو ملازمت به ئې وکړو و لښکر ته به ئې راولو. هر گاه چې جـلال خـان شهـزاده قـدم پـه اردو د دولت خانې کښېښ له قطب خان نیب نه ئې پوښتنه وکـړه چې تابوت مې د پلار چرته دے. قطب خان نیب په مخکښې شهٔ تابوت ته ئې وروست. جلال خـان رسـم د ادب پـه خـائے راوړ [۱۳۸] او وې ژړل پښه ئې د تابوت کښل کړه او یو سـاعـت هـورتـه کښیـنـاست. عالمانو فاضلانو او امراگانو ډیر عذر معذرت وکړ. پس له هغه عیسيٰ خان حجاب او نورو امراگانو عرض وکړ او دولت خانې ته ئې د خاصو او د عامو روان کړ هورته یو ساعت کښیناست پس له هغه ئې په اتفاق التماس وکړ چې مونږ واړه امراگان د شیـر شاه دې تا په سلطنت راضي یُو دپاره د جلوس سعد ساعت اختیار کړه. او تاج و تخت د بادشاهی په خپل وجود مزین او اراسته کړه. جلال خان ورته ووې چې څو مې مشر ورور شته ماته نهٔ ښائي چې دا رنگ گستاخي اختیار کړم او متکفل د دې کار شم. څو ورځې صبر کړے بـویـه چـې عـادل خـان شهزاده راورسي دے به په بادشاهی کښینوؤ مونږ به ئې خدمت اختیار کـړو. عیسـي خان حجاب او نورو امراگانو زړهٔ ور توب وکړ او عرض ئې وکړ چې په امور د سـلـطـنـت توقف او سستي کول او نظر په کشر په مشر اچول باعث د خرابی او ویرانی د بلاد او د عباد دے سلطنت عظیم عطا او موهبت له جانبه د رب العزت و بادشاه زادگانو ته رسي او دا سـعـادت نصیب دې تا شهٔ. (۱) چـې ذات شـریف او عـنـصر لطیف دې تا دلته حاضر شهٔ او واړو امـراگـانـو او گـردن کشـانو سر د اطاعت او د فرمان برداری و تاته کښېښ او دې تا په سـلـطـنـت مجتمع او متفق شول او ورور دې تا دوه صوه کروهه له دې ځایه په ستنه دے. یقین کـهٔ بـنـدوبـسـت د سلطنت تر راتلو د دهٔ موقوف کړے جهان به ډک په فتنو او په آشوب شي. بهتر دا ده چې شهزاده دې بې توقفه او بې اهماله په تخت د سلطنت جلوس وفرمائي او دا قابو مفت دے یوه لحظه اهمال مصلحت نهٔ دے. جلال خان ووې هر گاه چې تاسو واړه امراگان په دا متفق شوئ امید دے چې مشیت او اراده د پروردگار هم موافق دې تاسو له تدبیر شي. په ما لازم شـول چې په توکل د حق تعالیٰ متصدي د دې امر خطیر او بزرگ شم. او په خاصو عامو دې مـعـلـوم او مبـرهـن وي چې زهٔ به په تمام بندوبست او اشتغال او اعمال ضـابطه د شیر شاه

په خائے لرم. يوه ذره به روادار د قصور او د فتور نۀ شم مګر په تفضيل او په زياتي کښې، پس وارو امراګانو ژبه په ثنا پرانته او شرط ئې د زمين بوسي په ځائے راوړ په دا ميان کښې جلال خان جلو خپل لاس و لاس ته د جلال خان شهزاده وروړ او وې ونيل چې پاځه تخت په خپل جلوس اراسته او مزين کړه. هر څوک چې دې تا مخالفت اختيار کا سر به ئې په تيغ بې دريغ له تنه جدا کړم. پس له هغه ئې په ورځ د پنجشنبې يوولسم د شهر ربيع الاول سن انصو دوه پنځوس وۀ چې په تخت ئې د دولت جلوس وفرمايۀ. او خان ئې په اسلام شاه مخاطب کړ. اول نوم ئې عبدالجليل وۀ په بنو خدمتونو او په لائق تر ددونو شير شاه په خطاب د جلال خان سرفراز کړ. القصه هرګاه چې اسلام شاه په تخت د سلطنت جلوس وفرمايۀ. (۲) مسند عالي عيسيٰ خان حجاب چې پاندار د شير شاه او په توره (۳) کښې د پښتنو هيڅ خدمت برتر لر تنبول دارى نۀ وۀ خاصه پاندان ئې د اسلام شاه د وړاندې کښيښ او عرض ئې وکړ چې هرګاه محمد خان په وخت د شهزادګى په دې خدمت مامور وۀ. [۱۳۹] اوس دې هم په خدمت مرجوعه سرفراز او ممتاز وي. اسلام شاه وفرمائيل چې دا خدمت ډير عالي خدمت دے ډير اعتمادي او باوري ورلره بويه چې دا خدمت ئې صله شي. (۱) په وخت د شهزادګى هيڅا دې ما سره بدخواهي او دښمني نۀ درله هر چا ته چې ما دا خدمت ورکاوۀ باک ئې نۀ وۀ. اوس په خلاف د سابق ډير بدخواهان او دښمنان به دې ما په قصد پاځي مناسب دا دي چې مسند عالي دې متصدي او متکفل د دې امر خطير په دستور سابق وي. او په بل دې ئې نۀ روا کوي. پس پاندان ئې په خپل مبارک لاس واخست او مسند عالي عيسي خان ته ئې ورکړ او هم په هغه مجلس کښې ئې مشر ځوے د عيسيٰ خان چې الياس خان وۀ په خطاب ئې د فتح خان سرفراز کړ او کشر ځوے چې اسحاق وۀ په خطاب ئې د اختيار خان ممتاز کړ تر هسې حده چې له ابتدا د اسلام شاه د سلطنت تر اخره پورې ورځ په ورځ مراتب د عيسي خان او د فرزندانو ئې په تزائد او په ترقي وو او هر مشکل چې به اسلام شاه ته پيښ شۀ په حسن تدبير به د عيسيٰ خان سهل او اسان شۀ. في الجمله امراګانو د سرکار او فوجدارانو د ممالک محروسه اقتدا په صلاح د امراګانو د حضور وکړه. (۲) په تهنيت او مبارکبادى و ملازمت ته راغلل مګر شهزاده عادل خان هرګاه چې له دې واقعې اګاه شۀ په خپل تغافل او توقف پښيمان شۀ او افسوس او ندامت ئې دامن ګير شۀ. اخر سراسيمه او سرګردان شۀ. محمود خان چې د دۀ ځوے وۀ و دارالخلافت اګرې ته ئې روان کړ چې په خپل قيد او په خپل ضبط ئې راولي. اما حاکمانو د اګرې قلعه مضبوطه کړه او غوږ ئې د دۀ په وعده وعيد متوجه نۀ کړۀ. لاچار محمود خان وجاروت او عادل خان ته ولاړ شۀ. او خواص خان او

عیسیٰ خان نیازي چې پـه ولایت د مـاروار تـعین وو هر ګاه چې فرمان د اسلام شاه ورغـے اطاعـت ئې د امر عالي په ځائے راوړ و شرف د ملازمت ته روان شول. هر ګاه چې په نواحي د رنتنبـور راغـلـل عادل خان له ناداني او له شوربختي په لیدل د خواص خان ور نهٔ رغـے چې په ملائمت او منت (۳) ئې خپل کړے وے. خپل وکیل ئې و خواص خان ته واستوهٔ او استدعا او طـلـب ئـې د مـوافـقـت تـرې وکړ خواص خان ځواب ورکړ چې واړو امراګانو او ارکانانو د دولـت دې تـا وررور پـه تـخت کښیناوهٔ. تاته دا نهٔ ښائي چې مخالفت اختیار کړے او په ملک کښې شـوروشـر او فتنه واچوے او خپل ځان مطعون د خاصو او د عامو کړے. دا وئیل ئې و وکیل تـه د عـادل خـان ووې رخـصـت ئې کړ. پس له یوهٔ ساعت متوجه د کوچ شهٔ چې مبادا عـادل خـان شهـزاده خـود راشـي او پـه شـرم د خپل حضور مې ګرفتار کا. هالهٔ به موافقت او مرافقت د دهٔ لازم شي او اسلام شاه پیوسته خبر ګیر د خواص خان د احوال وهٔ له اوریدو د دې خبـر ډیـر خورم او خوشحال شهٔ او په خپل سلطنت ئې اعتماد وشهٔ. په مجرد د رسیدو د دې خبر له کالنجره په طرف د دار [۱۴۰] الخلافت اګرې روان شهٔ.او ساعت په ساعت منزل په مـنـزل خبـر ئـې د خـواص خان د راتلو اخستهٔ. هر ګاه چې اسلام شاه په نواحي د اګرې ورغـے خواص خان هم اګرې نه نژدې راغـے اسلام شاه واړه امراګان په استقبال د دهٔ ورستول او خود ئـې په هغه منزل مقام وکړ. او لوازم ئې د جلوس سر د سره اراسته کړهٔ او وې فرمائیل چې هغه زمـان به بادشاه شم چې خواص خان راشي او ملازمت وکا. في الجمله خواص خان راغـے پس لـه زمین بوسی قدم بوسي ئې وکړه. اسلام شاه ورترغاړه ووت او په ډیره په وچولي ئې کښېل کـړ خـواص خان بیا په ډیر ادب په خپل ځائے ودریدهٔ او التماس ئې وکړ چې تاج د سلطنت پـه تا مبارکـ شه مونږ واړه دې تا بنده او دولت خواه یو. په هر مخالف چې مو وفرمائے ماغزهٔ بـه د هـغـهٔ کـوتاه اندیش وکاږو. اسلام شاه په اواز بلند ووې چې زهٔ نن ورځ بادشاه شوم. چې خـواص خـان دې مـا شـهٔ. پـس له هغهٔ ئې درې خلعتونه په یوهٔ مجلس کښې پے در پے ورکړهٔ. پـس له هغه په مسعود ساعت داخل شهٔ و دارالخلافت اګرې ته او وروته ئې د دروازو د خزانو پـرانـتـل. دومـاهـه ئـې تـمـام سپـاه تـه پـه طریق د انعام ورکړه او درست لښکر ئې رضامند او خوشـنـود کـړ. یـوه ورځ ئـې امـراګـان او ارکان د دولت جمع کړهٔ ورته ئې ووې چې دولت خـواهـي او خیر خواهي او یکدلي او اطاعت او انقیاد دې تاسو په حق دې ما و هر چاته روشن او مبرهن دے لیکن زړهٔ دې ما له طرفه د مشر وررور پریشان او نګران دے چې دے له ما آزرده دے او په هر چې د دهٔ تسلي شي قبلونے یم. کهٔ دے زړهٔ په حق دې ما صاف کا او کدورت او نفاق له میانه واخلي په دا باب جلب د اختیار په لاسو دې تاسو دے. واړو امراګانو او وزیرانو

آفرین په رایٔ عالم آرایٔ د دهٔ ووي او عرض ئې وکړ چې یو دانا وکیل ورستوه چې مافي الضمیر د عادل خان معلوم کا. پس له هغه به په موافق د وخت تدبیر وکړو. اسلام شاه وفرمائیل چې نامه په رنگارنگ تفقد او مهرباني او مشتمل په اتحاد او یگانگي وکښئ او اظهار د اشتیاق د لیدو زیات تر حده پکښې درج کانئ. هرگاه چې نامه په مضمون وکښهٔ شوه په لاس ئې د آدم خان بیتني ورکړه چې وې رسوي. هرگاه چې عادل خان فرمان وللوست په لاس د خپل اعتمادي جدا جدا کتابت په نامه د هر امرا ئې وکیښ او ور ئې کړ چې په دا باب مصلحت دې تاسو څهٔ دې؟ په څواب کښې قطب خان نیب ورته وکښل چې صلاح د دولت دا دې چې په تلوار څان خپل راورسوې او رفع د ملالت او کدورت وکړه چې مرگ دې تا بهتر تر بل څائې د ژوندونه دې. او خواص خان ورته مرقوم کړ چې همه امراگانو د شیر شاه په سلطنت د اسلام شاه اتفاق وکړ او له مخه د اخلاص واړه مطیع او فرمانبردار د دهٔ شول. او اسلام شاه آرزو دې تا د ملاقات تر حده تیره لري. لائق دا دي چې دغدغه او وسواس له خاطره برطرف کړې او بې ملاحظې تشریف وفرمائې او مسند عالي عیسي خان حجاب متفکر شهٔ چې څرنگ څواب وکښي او القاب او سرنامه د عرضداشت څرنگ ترتیب کا. په دا سبب ئې له خپلو باوریو مصلحت وکړ او وې وئیل کهٔ عرضداشت لکه طریقه د بنده گانو ده وکښم له غیرته د اسلام شاه ملاحظه[۱۴۱] په خاطر لرم او کهٔ په بل روش سیاقت او روانول د عبارت وکړم له عادل خانه اندیښنه لرم چې مبادا گیله ئې په سینه کښې څائې وکا او هنوز کار په پرده کښې د غیب دې چې سلطنت په چا قرار او استقامت ونیسي. او پښتانهٔ له خدایه غواړي چې گرد د فتنې او غبار د فاسد په میان د دواړو وروڼو پاڅي. پس له هغه ئې اتفاق په دا وکړ چې عریضه په نامه د شیر شاه عالم پناه وکښي او دواړه وروڼه په نامه د شهزادگی مذکور کا. پس وې کښل چې په وخت د رحلت د رضوان پناه غفران دستگاه شیر شاه هیڅ یو شهزاده کامگار حاضر نهٔ وهٔ لیکن په سبب د نزدیکت او قرب مسافت شهزاده جلال خان په ډیر سرعت راورسید متکفل د امور د سلطنت شهٔ. اوس لائق دا دي چې لکه پخوا دواړه وروڼه شهزادگان یو د بله یاران او مهربان وئ اوس هم هغه پسندیده بنیوه د وړاندې کړئ. راشه چې گرد د فتنې کښیني او دولت په دې خاندان کښې په قرار پاتو شي. او جلال خان جلو مرقوم کړهٔ چې واړو امراگانو د اسلام شاه سره بیعت وکړ اوس دا مناسب د رایٔ عالي نهٔ دي چې له واړو امراگانو مخالفت اختیاروې او هومره جمعیت هم نشته چې و دوي ته ورسې. بهتر دا دي چې مخالفت او منازعت برطرف کړې. په دولت خداداد له خپله وروره ستیزه نهٔ روا کوې. په هر حال زر راتلل دې بهتر دي. او برمزید گور

هـم په دا قسم څو کلمې وکښې. عادل خان پس له رسیدو د کتابتونو اول ئې څواب د اسلام شاه د مراسلې وکیښ چې خواص خان او قطب خان نیب او جلال خان جلو ته دې حکم وشي چې پـه قول او پـه سوګند تسلي دې ما وکا او په خدمت مې د حضور مشرف کا. اسلام شاه دې وارِه سـردارانـو تـه وفـرمـائیل چې په هر روش تسلي د عادل خان وکړئ. او حضور ته ئې راولئ چې اشتیاق د ملاقات له حده متجاوز دے. دې درې وارِو امراګانو په اتفاق عرض وکړ چې عـادل خان امید د سلطنت نهٔ لري. هم په دا قانع دے چې په ګوښه ناست عمر په عیش او پـه عشـرت تـر سـره وړي. لیـکـن دا قـدر سامان او سرانجام د دهٔ لازم دے چې له څو تنو چې وابستـه د دهٔ وي جمعیت او کفایت ئې وشي. مونږ مطابق د امر عالي عادل خان ته څو امید له مـرحـمتـه د بـادشـاه دا رنګ دے چې شرم دې مونږ د قول او قرار وساتي او خلاف د قول او قـرار ونـهٔ شـي چـې دا وارِه قول او قرار د بادشاه دے. اسلام شاه وفرمائیل هرګز به په ساتل د قـول او د قسـم قـصـور او فتـور په عمل راوړل نهٔ شي. پس درې وارِه امراګان رخصت شول. جـلال خـان جـلـو چـې پـه حیـات د شیـر شاه ئې له اسلام شاه سره تمام اخلاص درلهٔ له لارې وجاروت او عـرض ئـې وکـړ چـې هـغه چې فرمائے سبا چې عادل خان راشي پوهیږم چې په عـمـل بـه راوړل نهٔ شي. پس مصلحت نهٔ دے چې دا رنګ عالي امراګان ورته استوے او د دهٔ ئې حامي او مددګار کوے او دا مقرر دي چې بادشاهان عهد او میثاق هغه زمان په میان راوړي چې لاس ئې د قدرت په سرزنش د هم چشم نهٔ رسي اوس وارِه امراګان [۱۴۲] د شیر شاه په خـدمـت دې تـا متـفق دي او دے له قلیله جماعته چې د دهٔ نوکران دي په قلعه کښې د رنتنبور متحصن دے په مجرد د توجه د رایات عالیات یا به حضور ته راشي او یا به اواره د دشت ادبار شـي. یـا بـه ئې فوځ قاهره دستګیر حاضر کا. باوجود د دې قوت او مکنت عهد او سوګند په میـان راوړل لـرې لـه عـقـل او لـه تـدبیره دي. او هرګاه چې دا امراګان و عادل خان ته ورشي عـادل خـان بـه لـه دوي قـول او قسم واخلي او خان به د دوي په پناه او حمایت کښې کا هغه زمـن به قاصد او عازم د حضور شي. پس تر هغه چې شکست د عهد او د پیمان واقع شوے نهٔ دے دا امراګان دې تا مطیع او فرمانبردار دي هرګاه چې لږ ډیر غدر او مکر له دې جانبه معلوم کا هغه زمان به خواص خان دې تا مخالف شي او سعي به د دهٔ په تقویت او قوت وکا او روادار بـه د دهٔ د دولـت خـواهـي شـي. صلاح د دولت دا دے چې دا جماعت نهٔ استوے او له رایات عـالیـات سـره په طریق د بنکار توجه وفرمایه. اسلام شاه عمل د دهٔ په مصلحت ونهٔ کړ. په دا میان کښې شاه محمد فرملي (۱) ووې چې نوکر ته بانده دي چې په واسطه د خپل صاحب د دروغو لـه سوګنده اندیښنه نهٔ کا. جلال خان جلو ووې هغه چې زهٔ په دې فکر ناقص پوهیدم

عرض مې کړ باقي امر د صاحب دے . فرد:

من آنچه شرط بلاغ است با تو می گویم تو خواه سخنم پند گیر خواه ملال

الحق دا ډیر بنائسته فکر او تدبیر وۀ لیکن تقدیر په خلاف د دې تدبیر وۀ خکه اسلام شاه ووې جلال خان رښتیا وائي کۀ ما له خپله وروره مکر او نفاق درلے، هرگز به ما دا رنگ بزرگان نۀ تصدیع کول. اما هر چې اسلام شاه ووئیل ته دل ئې ونۀ وې. (۲) پس جلال خان رخصت شۀ. په اتفاق دړې واړه امراگان و رنتنبور ته ورغلل او پیغام ئې د اسلام شاه و عادل خان ته ورساوۀ. دۀ خواب ورکړ چې زۀ هوا او خیال د سلطنت نۀ لرم اما اندیښنه او ترس د خان لرم اوس جلب د اختیار دې ما دې تاسو په لاس دے. هر فکر چې په باب دې ما کوئ په سوگند مغلظه ئې مستحکم کړئ. امرایانو عرض وکړ چې اسلام شاه له تا سره په هیڅ باب مضائقه نۀ لري په عوض به د رنتنبور د قلعې قلعه د بیانې درکا. هورته په عیش او په عشرت عمر تیروه. اما یو خل په خپل دیدار فرحت آثار دې ممنون او خورم کړه. عادل خان ووې ماته نیمائي ملک د بیانې هم ډیر دے کۀ تاسو دړې واړه امراگان کلام رباني وکړئ چې کۀ اسلام شاه وعده ماته کا او خواهان دې ما د سر شي په وسع امکان تاسو ممد او معاون د دۀ نۀ شئ او کۀ قبول ئې نۀ کا ترک د دۀ د اعانت او د مدد وکړئ. ممد او معاون د مظلوم شئ او هم په اول مجلس کښې ما رخصت کړئ. دړې واړو امراگانو دا مذکور قبول کړ او هر چې عادل خان وفرمائیل په ځائے ئې راوړۀ. پس عادل خان کونجی د رنتنبور په گماشته گانو د اسلام شاه وسپارلے او متوجه په ملازمت د ورور شۀ. في الجمله هر گاه چې خبر ورسید چې عادل خان په منزل د خانو (۳) داخل شۀ اسلام شاه حکم وفرمایۀ چې په نواحي د سنکارپور (۳) بارگاه بادشاهانه او فروش خسروانه او تخت عالي په انواع ارائش مزین او مرتب کړئ. چې په استقبال د عادل خان ولاړ شم. [۱۴۳] او سعادت حاصل کړم. بله ورخ اسلام شاه و مقام معهود ته ورغے او په تخت ئې جلوس وفرمایۀ. امرا هر یو په خپله قرینه ودرید. عادل خان ورننه ووت. ودرید سرمست خان سربني عرض وکړ چې شهزاده عادل خان سلام کا. اسلام شاه څۀ خو تغافل وکړ پس له هغه ئې اشارت وکړ چې په خاصه چبوتره چې پښې د تخت په هغه ځائے دې را دې شي. هر گاه چې عادل په دونکاچه وخوت اسلام شاه له تخته کوز شۀ ورسره غاړه غړی شۀ. یو زمان غاړه غړی وو نور اسلام شاه عادل خان تر لاسه ونیو. دواړه وروڼه په تخت کښیناستل او فاتحه ئې په روح پرفتوح د پلار وکړه. او هر چې رسم آئین وۀ په ځائے ئې راوړ. شیخ علي سرواني له خپله ترۀ شیخ محمد چې صاحب سجاده د شیخ مهلي قتال وۀ دا مقوله دپاره د عبرت د ارباب خبرت په نقل راوړه ئې چې یوه ورخ شیر شاه بنا بر

ضرور و عادل خان شهزاده ته ووې چې چارچاپېر تر لښکر قلعه د خاورو بنا کړه. اتفاقاً اسلام شاه په هغه منزل له بهاره راغے شير شاه ورته وفرمائيل چې مشر ورور دې تا په پرداخت او سرانجام د قلعې لاړ دے له دۀ سره ملاقات وکړه. اسلام شاه مطابق د حکم ورغے هرګاه چې نژدې ورغے له اسه کوز شۀ او عادل خان سور وۀ حاضرانو د مجلس عرض وکړ چې جلال خان سلام کا. عادل خان هرګز ورته التفات ونۀ فرمايۀ. هم هغه رنګ په بل کار مشغول وۀ څو اسلام شاه ورغے پښې ئې کښل کړے پس له هغه اسلام شاه په موجب د اشارت په اس سور شۀ او ورپسې تۀ څو عادل خان و ډيرې ته ورسيد. راوي وائي چې زۀ هغه ورځ حاضر وم چې سرمست سربني عادل خان په چبوتره ودروۀ او وې وئيل چې عادل خان سلام کا او اسلام شاه له ډيره رعونته هسک ورته نۀ کتل او دې په تواضع او په عجز او مسکنت ولاړ وۀ. شرائط د نياز او اطاعت ئې په ځائے راوړ. شيخ مصلح الدين سعدي وائي قطعه:

جهان اے پسر ملک جاويد نيست   دنيا وفاداری اميد نيست
نه برباد رفتے سحر گاه و شام   سرير سليمان عليه السلام
به آخر نه ديدی که برباد رفت   خنک آنکه بادانش و داد رفت

وائي چې اسلام شاه پخوا له ورتلو د عادل خان څو خوانانو ته چې په تهور او شجاعت ئې عتماد وۀ پټ وئيلي وو چې تاسو پټ سپاهيان شئ او وروستو د تخت حاضر اوسئ او زۀ به حاجبانو ته ووايم چې عادل خان دې له څو خدمتګارانو سره پرېږدي. هرګاه چې حضور ته اشي له خويه سره ئې مړ کړئ. پس دربانانو ته ئې وفرمائيل چې له خواص خان او له نورو مراګانو سره بې له يوۀ کس بل څوک مۀ پرېږدئ. هرګاه چې دربانانو امر د بادشاه په ځائے اوړ دوې وپوهيدل چې مجلس رنګ په بل رنګ لري. خپل متعلقان ئې په زور ننه يستل. سرګاه چې مطلب د اسلام شاه روا نۀ شۀ ځکه په چاپلوسی راغے او عادل خان ئې په تخت له انه کښيناوۀ او ورته ئې ووې چې تۀ مشر ورور ئې او مشر ورور په ځائے د پلار دے. تراوسه وري ما دې تا په نيابت تخت ټينګ کړ الحمد لله چې هيڅ تفرقې مخ ښکاره نۀ کړ. اوس اخه دا تخت په خپل جلوس مزين کړه چې حق [۱۴۴] په مرکز قرار ونيسي. عادل خان رته ووې چې سلطنت په تا مبارک شه چې تۀ لائق د تخت او د سلطنت ئې او في الحقيقت ې تا بادشاهي دې ما بادشاهي ده. پس له هغه عادل خان اسلام شاه په تخت ناست پرېښ او سود له تخته کوز شۀ. رسم ئې د مبارکبادی او تهنيت په ځائے راوړ او وارو امراګانو سر د سره بيعت وکړ او عرض ئې کړۀ چې ګرد د فساد او د نفاق په اوبو د اخلاص او اتفاق

کښېنـاست. پس له هغه اسلام شاه پاڅيد سور شهٔ او عادل خان ته ئې هم اشارت وفرمايهٔ چې سـور شـه. هر گاه چې عادل خان سور شهٔ او ورپسې روان شهٔ. خواص خان او جلال خان جلو عـرض وکـړ چـې وعـده او قـرارداد دا رنګ وهٔ چې عادل خان په اول مجلس کښې رخصت شـي. بـنـا بر ضرور هغه ساعت رخصت شهٔ او خپل خوږے محمود خان ئې په ملازمت د اسلا شـاه پـرېښ. اسلام شاه حکم وفرمايهٔ چې خواص خان او عيسيٰ خان نيازي دې و بيانې ته ځې ځکـه خـواص خـان او عيسـي خان نيازي له عادل خانه رخصت شول. القصه اسلام شاه ته پا درست ملک د هندوستان مخالف پاتو نهٔ شهٔ. باد د غرور او استکبار ئې په دماغ کښې پاڅيا لـه خـانـه ئې انديښنه وکړه چې څو عادل خان ژوندے دے مهم د سلطنت په ميان د خوف او رجا دے. او بعضې کارونه چې په ضابطې د سلطنت او په قواعد د خلافت کښې ضروري دې کـهٔ پېـښ شـي يا ښېتانهٔ په موجب د شرارت جبلي لاس د فاسد دراز کا او خپل عهد او ميثاق مـات او يـا مهـم له مانه لرمخ (١) ښـکـاره کـا او ورتلل دې ما لازم وي. او دا ده زر به قضيه د همايون بادشاه ښکاره شي. پس څهٔ رنګ مخالف وررور په ځنګ پرېږدم. او زهٔ متوجه د مهم شـم. بهتر دا دي چې اول عادل خان مړ کړم پس له هغه په بل کار مشغول شم. په دا سبب ئې غـازي خـان تـه خـنـجـر ورکـړ او بيـانـې تـه ئې واستوهٔ چې عادل خان ته ووايه چې اطاعت ا فـرمـانبرداري به دې تا هله عالميانو ته ښکاره شي چې يو څو ورځې خولانې و پښو ته واچو او مـاتـه راشے چې زهٔ په خپل لاس خولانې دې تا ماتې کړم او سر د سره دې دلجوئي وکړم ا په دستور سابق دې و بيانې ته رخصت کړم. غازي خان و بيانې ته ولاړ او پيغام ئې د اسلام شا و عـادل خان ته ورساوهٔ. عادل خان مضطربه او پريشان شهٔ ورته ئې ووې څځو صبر کړه. نو ئـې غازي خان په ځائے پرېښ او محل ته ننوت. په هغه پټ په بلې لارې و خواص خان ته ولا شهٔ. خواص خان ساه نيولے وليد او ژبه ئې له ګفتګويه پاتو وه. خواص خان ووې خير دې و دا هـومـره واهمه دي له څهٔ ده؟ عادل خان ووې اے دې ما ترهٔ دې تا له ګفته مې قلعه د رنتنبو پـرېښـوه او پـه لږ څهٔ مې قناعت وکړ خدمت مې د کشر وررور اختيار کړ اوس دا څهٔ وائي هـ چې دې تا رضا. خواص خان عيسيٰ خان نيازي وبالهٔ صورت ئې د واقعې ورته بيان کړ. او و وئيـل چې ماتول د دې وعدې او د قول د اسلام شاه په وقوع راغے او سوګند د مصحف هم دا بـاب شوے دے. او عادل خان چې هم شهزاده او هم صاحبزاده دي ما (٢) دے ما غوندي لـه درمـانـدګی ترهٔ وائي. معلوم چې حق په جانب د دهٔ دے او قسم د کلام رباني ما او تا کړ دے اوس په دا باب مصلحت څهٔ دے؟ عيسيٰ خان نيازي ورته ووئيل چې رضا دې تا ده. پس له هغه خواص خان [١۴۵] و عادل خان ته ووئيل چې اے شهزاده يا خولانې په پښو يا تور

ملا کړه څو ژوندے یم له خپله قوله جاروتونے نهٔ یم. پس عادل خان موتهے د توري کښل کړو خواص خان ته ئې یوړه او وې وئیل چې دې تا په قوت دا توره سر د سره په ملا ترم وګنه هغه ورځ چې زهٔ لـه قـلـعې د رنتنبور راکوز شوم هم هغه ورځ مې توره پرانتې وه پس خواص خان وـرله او غازي خان خولانې د وړاندې کښېښوے او وې وئیل چې حکم د اسلام شاه دا رنګ دے چې دا خولانې په پښو د عادل خان کړه او حضور ته ئې راوله. خواص خان په قهر شهٔ او وې وئیل چې دے مظلوم بې چاره ترک د سرداری اختیار کړ او په لږ څهٔ ئې قناعت وکړ او ګوښه ئې ونیوه او وعده ئې ماته نهٔ کړه څکه ئې اسلام شاه حمل په حقارت وکړ اوس په غرور دخپل دولت او تهور عهد او قول ماتوي او اوده فتنه بیداروي. دا کوم عقل او کوم تدبیر دے. او بالفرض والتقدیر کهٔ طالع د اسلام شاه قوي وي او په ډیر کوشش غالب شي هرګاه چې عالم ګډ وډ او مسلمانان طرفین قتل شي یقین دے چې نوم به ئې د بد قولی او بد عهدی پائیدار پاتو شي. هرګاه چې له اوله خاطر د اسلام شاه په مکر او په فریب وهٔ. امراګان به ئې د پلار په دا رنګ فریب کښې و منځ ته نهٔ راستول اوس محال دے چې مونږ نظر په فاني دولت وکړو قسم د مصحف تر شا کړو او ترک د حق په لاس واخلو او شکست د عهد او د پیمان روا کړو او په ابتدا کښې دا رنګ مقرر شوي وو چې هر یو قول او عهد مات کا واړه امراګان به لاس د هغهٔ له موافقته واخلو او رعایت به د مستحق وکړو اوس چې په دا اسلام شاه راغے ما ترک د دهٔ د ملازمت وکړ خدمت مې د عادل خان په سر واخست. او هم په هغه مجلس کښې ئې خولانې په پښو د غازي خان کړے او زندان ته ئې واستوهٔ او په استعداد د جنګ ساعي او سرګرم شهٔ او امراګانو ته ئې د شیر شاه علیٖحده علیٖحده کتابت وکیښ چې اسلام شاه لـه خپل قول او د قراره وجاروت او اندیښنه د خپل وررور د مرګ لري. هرګاه چې له دې مهمه فارغ شي لاس به دې تاسو په مرګ دراز کا چې ډیر عجول او تلوار وړونکے دے و سبا هم هغه قضیه د سلطان ابراهیم لودي په مخکښې د دهٔ ده چې واړه امراګان او وزیران ې د سلطان سکندر مړهٔ کړهٔ. هندوستان ئې بائ کړ او خود هم مړ شهٔ. پس اولي بهتر دا دي چې واړه نظر په خپل قول او اقرار وکړئ او عاقبت اندیشي د لاسه مهٔ پریږدئ. شیخ نظامي ګنجوي فرمائي بیت:

از پے آنست کہ شد پیش بین خانہ پُر انگبین

پس لـه هغـه واړو امراګانو د شیر شاه په خواب کښې ورته وکښل چې فکر د مسند عالي په صواب دے واړه پـه دا بـاب کښې مطیع او فرمانبردار یو. بانده دي چې په راتلو کښې تلوار وکړه او هسې راشے چې لا هنوز شپه باقي پاتو وي. چې عادل خان شهزاده په حوالي او

گـرداگرد د اگرې ورسي مونږ به واړه امراګان و ملازمت ته ورشو او شک نشته چي اسلا
شـاه بـه پـه مـجـرد د مـخـالـفت د خبريدو بې توقفه وتښتي او يا به په قلعه کښې د اگرې خا
حـصـار کـا گـرفـتـار بـه شي. هر گاه چي خواص خان په مضمون د امراګانو د خطونو اګاه ش
خـوشـحـال او خـورم شـهٔ قـرار داد ئـې وکړ چي ووځو او په نواحي د اګرې د اسلام شاه سر
جـنـک برپا کاوو. او مناسب کلام د لياقت دا دے چي دا قضيه [۹۴۶] دلته پريږدم او احوا
د اسلام شاه وکښم. هرگاه چي خبر د غازي خان د قيد او طغيان د عادل خان شهزاده په اتفا
د خـواص خان او د نورو امراګانو د شير شاه اسلام شاه واوريد فوځونه ئې د پلار چارچاپير ت
خان وليدل له خپله کرداره نادم او پښيمان شهٔ ليکن چي کرم د پروردګار په باب د دهٔ مبذو
وهٔ له مخالفته د هيچا و دهٔ ته آسيب او ضرر ونهٔ رسيد بلکې گرد او غبار د خوارى ئې په سر
خپل دولت ونوست او په لږ مدت په جزا د خپلې سزا ورسيدل. بيت:

کسے را کہ دولت بود پائیدار چی غم گردش روزگار

. اعتـماد د اسلام شاه له امراګانو او له سپاهه پاڅيد. قطب خان نيب او جلال خان جلو ئې وبل
ورتـه ئـې ووئـيـل چـي کـهٔ لـه دې جانبه خلاف له فکره او له تدبيره په وقوع راغلے وي لائق
مسند عالي او د نورو امراګانو دا وو چي په رمز او په ايما يا په تصريح لکه نصيحت او وعظ
مـخـلـصـانو وي په ظاهر ئې راته معلوم کړے وے کهٔ ما ترک د مدعا کړے وے بهتر او کهٔ ن
هـلـهٔ به دوي په مخالفت کښې چي بدترين له صفتونو د انسان دے معذور وو. قطب خان نيب
او جـلال خان جلو عرض کړهٔ چي خاطر عاطر دې د بادشاه له دې واقعې جمع وي چي لا کا
لـه لاسه لاړ نهٔ دے علاج به ئې وکړو. او مونږ ضامن کيږو چي عادل خان او خواص خان به
دې شـورشـه منع کړو. اسلام شاه وفرمائيل چي ځو ورځې هر چي شرط د دولت خواهي او
اخـلاص دے پـه ځـائے دې راوړي په ميان د دې ردوبدل عيسیٰ خان حجاب حاضر نهٔ وهٔ خب
شـهٔ چـي جـلال خـان جـلـو او قطب خان نيب په رسالت و عادل خان او خواص خان رخصت
شـوي دي هـغـه زمـان و اسـلام شاه ته راغے او عرض ئې وکړ چي دولت خواهانو د درګاه ځ
قـصـور کـړے دے چـي قـطـب خـان نيب او جلال خان جلو په خدمت د رسالت و لښکر ته
مـخـالـفـانـو استـول شـي صـورت د واقعې دې وفرمايهٔ شي چي په غور ئې ورسوو. اسلام شا
وفرمائيل چي غرض دې ما د دوي له استولو دا دے چي صورت د انتظام او د پيوند بنکاره ش
او بـل لـه اوضاعه او له اطواره د دوي پټ او ظاهر عناد او فساد معلوميدهٔ. مبادا چي قصور او
فتـور لـه زبـونـى د دوي و زړو تـه د مـخـلـصـانو يکرنګ او د امرايانو متفق لار بيامومي. ومې
غـوښتـل چـي اهـل نفاق بالکل له ميانه خارج کړم چي همه امراګانو د شير شاه له ما مخالفت

آغاز كـړ او يـو د بل متفق شول. عادل خان ئې و ماته ودراوۀ او مستعد د جنگ شۀ. كۀ واړه امرا گـان د سـلـطـنـت مـلـهٔ د دۀ شي زۀ هر گز تن په خجالت او زبوني كښېږ وركوونے نۀ يم، غوارم چې ښـه پهلواني وكړم. گوره د پردې د غيب څۀ مخ ښكاره شي. [۱۴۷] او بل په دا بهـانـه مې د رسـالـت منافقان له څپله لښكره خارج (كړۀ. وايم) (۱) چې لـه باقي سپاهه چې موافـق او متـفـق دي و قـلعې ته د رهتاس چې له مخلصانو دې ما دي ولاړ شم. چې هغه خزانه و خـلـم نـور لښـكـر وسـاتم او له مخالفانو سره جنگ آغاز كړم اوس هر چې تۀ پوهيږے هغه ووايـه چې دې مـا دې تا په اخلاص اعتماد تمام دے. عيسي خان حجاب پس له تفكره عرض وكـړ چې دارالـخـلافـت اگـره پريښول او تلل و رهتاس ته اختيارول دا مصلحت د دولت نۀ دے. په مجرد د دې چې رايات عاليات په طرف د رهتاس روان شي خلق به دا په كمال زبوني حمل كا. (۲) او شـكـسـت بـه بې لـه جـنـگـه له ديو معنو تصور كا. او بل امرا گان د حضور او تعيـنـات د سـرحـد واړه د عـادل خان سره متفق شول. هومره مهلت به را نۀ كا چې و چنار او رهتـاس تـه ورسـو اوس دارالـخلافت په لاس زمونږ دے كۀ دوي هر څو جمعيت او سپاه لزي خـلق به دوي وته باغي و طاغي وائي. هر وخت چې مونږ په يوۀ طرف وخوځو او دارالخلافت اگـره پـريـږدو په معنيٰ به مونږ باغيان او طاغيان شو او سلطنت امر عظيم دے بې له جنگه او له جـدلـه پـه لاس نـۀ راځي. بادشاه ته بائده دي چې توكل په كرم د كريم وكا او لاس له ديو فاسـدو انـديښـنـو واخلي. له دې مشت ياغي (۳) نـه ويـره او وسـواس پـه خاطر نۀ راوړي. په تـحـقـيـق زمـونـږ لښـكـر ډيـر د مخالف تر لښكره زيات دے. په دا چې شپږ زره سوارۀ خاصه نامـدار لـه ما سره موجود دي. او دوه زره سوارۀ تر دا سوا له ما سره رفيق چې دا لا په معرض شـمـار كښـې نـۀ راوړو او پـوهـيـږو چې د كار په وخت به كمے ونۀ كا او قبيله د فرمليو او د نـازيـو مخالفه ده. اتفاق ورسره نۀ لري. په دا چې فرملي پرورده او خاكـ برداشته دركاه دي او نيـازي خـود سرداران او پيشوا تير شوي دي. بې له تامله چاته سر ټيټوونې نۀ دي. او بې له ديـو څـوانـانـو ډيـر مـنـصـب داران او سائر زميداران مطيع او بنده گان د دركاه دي. او سپاه د مخـالـف دوه فـرقـې شـوے دے. بـعـضـې هـغـه دي چې خال ئې د بدنامي په مخ كښيښ ملۀ د مخالف شول. لكه خواص خان او عيسيٰ خان نيازي. او بعضې هغه دي چې تر ركاب لاندې د بادشـاه نـاست دي څان ئې مخفي كړے دے او تردد د مخالفت كاندې او په ظاهر دم د اتفاق وهـي او هيـڅ يـو طـرف نـفـع او ضـرر ورتـه معلوم نۀ دے زړونه ئې متفرق او متردد دي او هر لښـكـر چې دو دلـه وي كـار ئـې لـه لاسـه نـۀ شـي. پـس جلال خان جلو او قطب خان نيب و مـخـالـفـانو ته استول صلاح د دولت نۀ دے په لښكر كښې د بادشاه څو فائدې [۱۴۸] لري.

اول دا چې کثرت د غلیم پرې ونهٔ شي دویم دا چې لښکر د بادشاه پرې ډیریږي. دریم دا چې هر ګاه چې دوي په وخت د وعدې چې له مخالفانو سره ئې کړې ده ور ونهٔ رسي. یقین چې مخالفان به شکسته دل شي. او دا باعث د دوي د شکست دے. هر ګاه چې زړهٔ د سردارانو شکسته شهٔ تردد او تدبیر ئې تزلزل شي. هر ګاه چې تدبیر او تردد ئې شوریده شي دا نتیجه د شکست ده. او بل دوي چې په لښکر ظفر اثر کښې وي له طرفه به د مخالف جنګ کولے نهٔ شي. اولیٰ انسب دا دي چې دوي له ورتلو د عادل خان منع کړے او په افزوده منصب او په التفات ظاهري ئې دلاسه کړے. لکه حکیمانو فرمائیلي دي چې هر ګاه په خپل لښکر کښې مخالف معلوم شي بائده دي چې ځنې مخالفان په عهد او په قول و خان ته وځکول شي په دا چې اغلب دوستي او دښمني د اهل دنیا په سبب د زیاده طلبي وي. کهٔ دښمن خاني په خپل مقصود ووینې ورسره طرح د دوستي برپا کا او کهٔ متفق دوست په خپل غرض کښې بوجه من الوجوه مقصر ووینې دښمني او عداوت ورسره آغاز کا. پس له دې مذکوره اسلام شاه مخ په لور د نورو امراګانو کړ شاه محمد فرملي چې په شجاعت بې نظیر وهٔ عرض ئې کړهٔ چې په ګفتار د عیسیٰ خان ځائے د دم وهنې نشته او نورو هم په هغو خبرو آفرین ووې هر ګاه چې اسلام شاه اتفاق د خپل لښکر معائنه کړ خوشحال او خورم شهٔ او عزم جزم ئې د جنګ وکړ او وې وئیل چې زهٔ به سبا په جنګ کښې هومره ثبات او استقامت وکړم چې صورت د فتح ښکاره شي او یا به په دهکې د فنا بنیاد دې ما د حیات منهدم او ویران شي. نور اسلام شاه و عیسیٰ خان حجاب ته ووې چې دا منافق امراګان له رسالته په کومه بهانه راستانهٔ کړم. عیسیٰ خان حجاب عرض کړهٔ چې ورته ووایه چې اعتماد او قوت دې ما په تاسو دے. هر ګاه چې تاسو و مخالفانو ته واستوم خان ځخه شوک وساتم او بل ملاحظه په خاطر لرم چې لکه غازي خان خواص خان په قید کړ نهٔ وي چې تاسو هم په قید کا. بهتر دا دي چې تاسو په حضور اوسئ لیجې دې ما په تاسو قوت ناکې دي. وکیلان په نصیحت و مخالفانو ته واستوئ. دوي درې واړه امراګان په اتفاق و خپل مکان ته راغلل او خپل وکیلان ئې تجویز کړهٔ وائ ستول چې په خدمت د عادل خان شهزاده په اتفاق د مسند عالي خواص خان او عیسیٰ خان نیازي عرض کړې چې واړه امراګان بې له عیسیٰ خان حجاب له تا سره متفق دي. او بې له خپلو قدیمانو هیڅ کس د اسلام شاه سره اتفاق نهٔ لري. بائده دي چې شپه باقي پاتو وي خپل ځان و دارالخلافت اګرې ته راورسوے چې واړه دې تا سره پیوسته او پیوند شو. نور مخالفان د اسلام شاه مغرور شول. په اوویشتم د رمضان المبارک چې شب د شب قدر وهٔ نمابنام له بیانې په دبدبه او طنطنه سوارهٔ شول. نماخفتن ئې په خانو (۱) کښې وګزارهٔ د فتح

پور (۱) سیکري ته ورغلل او په ملازمت د شیخ سلیم چشتي چې له اولاده د حضرت شیخ فرید شکر گنج وۀ او مقتدا د خپل عهد وۀ. [۱۴۹] او په دغه قصبه کښې په هدایت د خلق الله مشغول وۀ مشرف شول. (۱) عادل خان او خواص خان نیمه شپه ورغلل. دغه وخت شیخ پـه مانـځـۀ مشـغول وۀ دوي په حلقې د مقتدیانو راغلل په سنت او په نفل د شب قدر مشغول شـوې خواص خان ته واړو امراګانو ووې چې ملازمت د شیخ میسر نۀ شۀ. او نیمه شپه پاتو ده اوس لـه شیـخـه رخـصـت واخله متوجه مخ په وړاندې شه چې په ګزشته وعدو ګرداګرد ته د اګړې ورسـو. خـواص خـان ووې نـن شپـه غـنیـمـت وشـمارۍ له دې سعادته محرومیدل نۀ اختـارول بـویـه. او لښکر د اسلام شاه هومره قوت او غلبه نۀ لري چې مونږ ئې په ماتول او په شکست دا ساعت اختیاروۀ. (۲) هر وخت چې وررورسو ماغزۀ به ئې وباسو نور خواص خان بیـایـه مانځۀ مشغول شۀ. هرګاه چې څلور ګړی شپه پاتو شوه خواص خان رخصت واخست لاهـنـوز پـه موضع د مندها ګرهـ (۳) ورغـلـے نـۀ وۀ چـې صبح صادق شۀ. نمونځ ئې د سبا په مـوضـع مـنـدهـا ګرهـ وګزارۀ. نور روان شول. هرګاه چې دا خبر و اسلام شاه ته ورسید خود بدولت له قلعې راووت توجه ئې په مقابلې د مخالفانو وفرمائیله. هرګاه چې له عادل خانه او له خـواص خـانـه تـخـلف د وعـدې تیرې واقع شۀ اکثر خلق له فوځه د اسلام شاه نۀ توانیدل چې ورغـے مـکـر پهاړ خان لوحاني او کالا پهاړ او قطب خان نیب او برمزیدګور او عالم خان چې نیـمـې شپې و عادل خان او خواص خان ته ورغلل او په دوي کښې قطب خان عاقبت اندیشي وکړه له لارې وجارووت. په وخت د سوارۍ و اسلام شاه ته حاضر شۀ. اسلام شاه قطب خان اوجـلال خـان جـلـو چې په دوي ئې ډیر ګمان د مخالفت وۀ له خپله فوځه ئې جدا کړۀ. خان وتـه ئـې وبلل نور ئې صفونه وتړل. خدمت د مقدمې ئې و عیسیٰ خان حجاب او د دۀ خامنو ته وسپـارۀ چـې مقابل له خواص خانه شي. في الجمله پس له ډیره زدوخورده او له جداله او قتاله اولـه جنګه او له جدله عادل خان شوربخت چې مقابل د سعید وررور د اعظم همایون او جلال خان جلو او د شاه محمد فرملي وۀ تاب ئې د مقاومت رانۀ وړ مخ ئې په تیښت ونیو ګرد ئې د خوارۍ او د خـجالت په سر د خپلو ملونو ونوست بې توقف تر دریابه پورې شۀ. و چندوار ته ولاړ شـۀ. له هغه ځایه و پټنې ته ولاړ خواص خان له دې واقعې خبر نۀ وۀ منتظر د فتح وۀ ناګاه خبـر د عـادل خـان د شـکـسـت ورورسیـد قوت ئې مات او طاقت ئې طاق شۀ. او عیسیٰ خان حـجـاب پـرې زړۀ ور شۀ. بنا بر ضرور ئې عار د فرار او د تیښت اختیار کړ. او په لور د بیانې چې اهل او عیال او فرزندان ئې هورته پریښي وو روان شۀ. او په جنګ کښې عیسیٰ خان له فرزندانو سره او شاه محمد فرملي او سعید خان نیازي چې وررور د اعظم همایون وۀ او قدیمي

فوج د اسلام شاه چې له وخته د شهزادګۍ ورسره وۀ کمال تردد ئې په ځائے راوړ اما فتح نامه په نامه د عیسی خان [۱۵۰] حجاب وکیښ شوه. او جلال خان جلو اګر چې په دا قضیه کښې مخالف وۀ په موجب د قدیم اخلاص تازه مخالفت ته ئې نظر ونۀ کړ ډیر کوشش او کشش او تردد ئې وکړ او بهاړ خان لوحاني او برمزیدګور او عالم خان میانه چې په شپه و لښکر ته د عادل خان ورغلي وو. هرګاه چې صورت ئې د فتح د اسلام شاه د اقبال په آئینه کښې ولید له خپلې بې ادبۍ پښیمان شول لا طفونه (۱) د جنګ ولاړ وو مبارکباد ئې ورکړ او داخل په لښکر ظفر اثر شول او اور د نفاق ئې په خاورو د انکار پټ کړ لیکن اسلام شاه له تخلفه د دوي واقف وۀ عالم خان ئې هم هلته په قتل ورساوۀ او سیاست ئې د نورو و بل وخت ته موقوف پرېښ. تر نواحي د فتح پور سیکري په عیسیٰ خان او خواص خان پسې روان شۀ. له هغه نه ئې مراجعت وفرمایۀ. بهاړ خان لوحاني او زوم د شیر شاه چې تتار خان کانسي وۀ او عیسیٰ خان دولت خیل سور او عالم خان نیج بهیه یوسف خیل او نور امراګان ئې له شاه محمد فرملي سره کړۀ او په دفع ئې د عیسیٰ خان نیازي او خواص خان تعین کړۀ. هغو کورنمکانو شتابي له باده پور کړه له اهل و عیاله سره ئې ځان له چپو د حادثو وکیښ. لار ئې د میوات ونیوه. شاه محمد له افواج قاهره سره په نواحي د فیروز پور ورپسې ورسید طرفین عظیم جنګ واقع شۀ. درسته ورځ جنګ وشۀ بعضې نفاقي امراګانو چې ولیدل چې شاه محمد فرملي به په فتح ممتاز او سرفراز شي هومره نفاق ئې وکړ چې شاه محمد شکست بیاموند. خواص خان او عیسیٰ خان فرصت غنیمت وشمارۀ و سرهند ته روانٰ شول او بادشاهي لښکر از راه ضرور و حضور ته روان شۀ. اسلام شاه پس له هغه موافق او منافق امراګانو ته فراخور د حال او په تقاضا د وخت هر یوۀ ته منصب او اضافه ورکړه او په دوي کښې عیسیٰ خان حجاب ئې په خطاب د خواص خان اولس زره سوارۀ اضافه او طغ او نغاره سرفراز کړ. او فرزندانو ته ئې دو چندان منصب عنایت کړ. عیسیٰ خان حجاب معلوم کړۀ چې اسلام شاه بنا بر مصلحت دلجوئي د پلار د امراګانو کا ماته لائق نۀ دي چې زۀ طمع د ورانـدې کړم او داخل په جمع د دې جماعت شم چې دا منصب او مرتبه تر څو ورځې تیریدونې نۀ ده او اسلام شاه په سنت د رسالت پناه عمل کا چې په وخت د فتح ئې بعضې غلیظ شدید کافران چې له اخلاصه ئې د اسلام بهره موندله (۲) په ډیر انعام او په اکرام ئې تسلي او دلاسا د دوي د خاطر وکړه او هم بزرګانو وئیلي دي چې کۀ صاحب ته یو سخت مهم پیښ شي بائده دي چې نوکر دې په هغه وخت کښې له صاحبه طمع د مال قطع کا. بلکې خپل دولت دې په قدر د استعداد او استطاعت نثار او پیشکش د خپل مخدوم کا څکه عیسیٰ

خان حجاب التماس وکړ چې طمع او نغارې په واسطه د رفع د بادشاهۍ د ګمان په خپلې سرفرازی قبلوم اما اضافه د منصب دې موقوف تر بله وخته شي. اسلام شاه په باب د منصب د اضافې ډیره مبالغه وفرمائیله. اخر اسلام شاه ووئیل چې بهتر هرګاه دې تا اراده دا ده چې څو ورځې دې موقوف وې انشاء الله تعالي هغه مراتب [۱۵۱] چې دې ما په خاطر دې په حق دې تـه ظهور بیامومي. او سائر امراکان چې نفاق پیشه وو په څو منصبونو سرفراز شول. او عاقبت اندیشي ئې ونه کړه څکه ئې ولیدل هر چې ئې ولیدل. القصه اسلام شاه پس له منصبونو و اعظم همایون نیازي ته چې حاکم د پنجاب وه فرمان واستوه چې خواص خان او عیسیٰ خان نیازي تاب د بادشاه د سپاه رانه وړ مخ ئې په تیښت ونیو او په سرهند کښې ئې استقامت نیولې دے په مجرد د رسیدو د امر عالي قصد د هغه طرف وکړه او ماغزه د روزګار د مغو زوربختانو وکاږه. او نور کومک تعین د مسند عالي شه. بائده دې چې یو د بله سربراهي د مهم وکړئ او خاطر دې ما له دې دغدغې فارغ کړئ. اعظم همایون بې توقف له لاهوره ووت او متصدیانو ته ئې وفرمائیل چې سامان او سرانجام د جدید او د قدیم لښکر تیاروی او پیسے در پیسے ئې راستوی. په لږ مدت ئې شلویښت زره سواره جمع کړه په سر د خواص خان او د عیسیٰ خان نیازي روان شه. او دوي ته ئې وکښل چې اوس تسکین د اسلام شه د غضب محال دے. لائق د مسند عالي دا دي چې یو څو ورځې نواحي د سرهند پریږدي. په کوهستان شمالي یو ځائے له زمیدارانو واخلي او مسکن او قرار ونیسي او منتظر اوسي ګوره له پردې د غیب څه مخ ښکاره شي. کهٔ اسلام شاه کینه تر شا کړه او تقصیرونه ئې د پلار د امراګانو معاف کړهٔ او منصبونه ئې چې اوس بنا بر مصلحت ور کړي دي ورته پریږدي. زهٔ به حضور ته ورشم استعفا به دې تاسو د ګناهونو وغوارم کهٔ قبول ئې کړه بهتر او کهٔ نه زهٔ بـه لطائف الحیل د وړاندې کړم. خپل ورور سعید خان به له خدمته څان ته طلب کړم په اتفاق به د واړو امراګانو د شیر شاه فکر بر اصل کړو. خواص خان او عیسیٰ خان نیازي په ورتلل د دې خط امید ئې چې د موافقت درلهٔ قطع شهٔ او وپوهیدهٔ چې دے هم تاب د مقاومت د اسلام شاه نهٔ لري. لاچار ئې خپل اهل و عیال و پرګنې ته د روپړ (۱) ورروستل او له هغه نه ئې له راجا د کماؤن (۲) چې له عظیم الشانو راجګانو د هند وهٔ او لغایت د پلار او د نیکهٔ اطاعت او فرمانبرداري ئې د سلطانانو د هند اختیار کړې نهٔ وه او همیشه ئې دم د مخالفت واههٔ ارتباط او رابطه ئې ورسره برپا کړه. پس له قوله له قراره و غرو ته د کماؤن راغلل په موضع د اکیلي (۳) ئې مقام ونیوهٔ او راجا موافق د خپل استطاعت جاګیر و دوي ته ور کړ او ډیره دلجوئي ئې د دوي وکړه. پس لـه هغه اعظم همایون نیازي په حسب الحکم و لاهور ته وجارووت. پس

لـه هـغـه اسـلام شاه قطب خان نيب له نورو امراګانو سره په ميان د دوآب تعين کړ چې معقول ځـائـې وګـورئ او کوټ واچوئ پکښې اوسئ کهٔ خواص خان پرګنو ته درغـې نواحي ته ازار ونـهٔ رسـوي او کـهٔ مـمـکـن وي جـنـګ هـم ورسره وکانئ. او اسلام شاه په طرف د چنار او د رهتـاس روان شهٔ. خزانه ئې د دغه ځائې و دارالخلافت اګرې ته واستوله. پس له څو ورځو ئې خود هم مراجعت وفرمايهٔ او کوره کهاتم پور (۳) ته راغـې ناګاه ئې نظر په امراګانو د شير شاه چې تـخـلف او نـفـاق ئـې کړے وهٔ برابر شهٔ. په خاطر ئې دا انديښنه تيره شوه چې په دا واقعه مـخـالـفـت چې له ما سره ديو امراګانو د شير شاه وکړ هيڅ نقصان [۱۵۲] او سياست ئې ونهٔ شـهٔ. بـلـکـې مـراتـب او مـنـصبونه او جاه ئې لا زيات شهٔ. نعوذ بالله منها په دا صورت د ديو لا اميـدونـه پـه فـسـاد کـښـې زيـات شـول چـې مـونږه دا هسې انديښنه وکړه او مراتب مو زيات بيـامـونـد سبـب د دوي د غـرور دے او نـور عالم چې اوري د هغو اميد به هم د فساد وي په دا سبـب چـې عالم دنيا په هر څهٔ کښې چې د دوي مقصود حاصليږي هم هغه چار کا. دا سبب د نـقـصـان د بـنـدوبـسـت د بـادشـاهي دے. په خاطر مبارک ئې تير شول چې فکر د دې منافقو بـراصل کړے بويه. اتفاقاً يوه ورځ ئې د جلال خان جلو نه پوښتنه وکړه چې جماعې د امرايانو د شيـر شـاه چې له ما سره ئې مخالفت وکړ سبب دا وهٔ چې بې ګناه ورور قيدوي او نقص عهد کـوي. بادشاهانو ته دا څهٔ منظور نهٔ دي. (۱) پـه هر څهٔ کښې چې خيريت د خلق الله ويني هغه کاندې او امرايانو ته دا کوم مصلحت دے چې کړے کړه کهٔ نهٔ وي مونږ بل بادشاه پيدا کوؤ نـه هـر چـې بادشاه خيريت د ملک د بندوبست په څهٔ ګني متابعو ته بويه چې هم په هغو لارو ورسـره درومـې چې خيريت په دا کښې دے خپل مقصود ته ونهٔ ګوري نظر دې بادشاه په کار لـري کـهٔ يـو عـادل خـان مـړ وے يـا قيـد وے د چا خونه پرې ورکه وه. اما دا هومره فتنې چې وشوے د ډيرو خونې پرې ورکې شوے. رباعي:

چـې پـه کـور کښـې خـلـلـې وي / زر دې کـــانـــې د تـــلـــې وي
کـــهٔ يـو روز حـــلالـــويـــنـــه / د ســـردار (۲) چـــار ده مهيـــنـــه
مـــهٔ اغـنـنـدئ مــــهٔ ئـې خـوانـې / د ســـردار حـــکـــم خـــود وانـــې
يـو ورک بـنـهٔ کـهٔ ډير ورک بنهٔ دې / يـو سپک بنـهٔ کهٔ ډير سپک بنهٔ دې

يوه ورځ اسـلام شـاه له جلال خان جلو نه پوښتنه وکړه چې څهٔ سبب وهٔ چې دې تاسو د عادل خـان سـره اتـفـاق وشـهٔ او دې مـا سره مخالفت او نفاق. جلال خان جلو ووئيل چې سبب دې مونږ د مخالفت دا وهٔ چې تا عادل خان بې دې مونږ له صلاحه په قيد کاوهٔ ننګ او جاهليت مـونـږ پـه مخالفت راوستو. بيا اسلام شاه پوښتنه وکړه چې عيسىٰ خان حجاب او شاه محمد

فرملي هم دې تاسو سره متفق وو؟ وې وئيل نه. په دا چې مونږ عيسيٰ خان حجاب دې تا دوست صادق العقيده ګانۀ له خپله مصلحته مو واقف نۀ کړ. په يقين پوهيدو چې دې به له مونږ سره موافقت اومرافقت ونۀ کا. او په قول په قرار مو د شاه محمد چندان اعتماد نۀ وۀ او بل مو چندان جمعيت هم ورسره نۀ ليدۀ چې طمع مو ورته د مدد او امداد کړے وے. او بل پوهدو چې دې تا لښکر ته تاب او طاقت دې مونږ د مقاومت نشته اما توفيق او تائيد د پروردګار د تا رفيق شۀ. فتح دې تا روزي شوه او په دغه وخت دا بيت دې ما په زړۀ تير شۀ.
بيت

دل بقول دشمنان دوستان برداشتی دوستان و مخلصان بگذاشتی

او د بيت هم په دا مضمون دے بيت:

بقول دشمنے پیمان دوست بشکستی به بین که از که بریدی و با که پیوستی

و خان ته مې دا ووې اے نفسه مينه او اخلاص د دې هومره کالونو په واقع کيدل د لږ کلفت نابرد شمارل او عناد او فساد اختيارول شيوه د آدميت نۀ ده ځکه مې په توفيق د حق تعاليٰ په تيغ آبداد ګردنونه د مخالفانو ووهل او هومره تردد او کوشش مې وکړ چې صورت د فتح له آئينې د دولت نمودار شۀ. اسلام شاه په ظاهر په دۀ [۵۳ ا] تحسين او آفرين ووې او په باطن ئې وې چې دا رنګ جاهل او بيباکه چې په دوستي او په دښمني ئې اعتماد نشته او له مخالفته او له مضرته ئې اميد ډير دے. مرګ ئې بهتر او اوليٰ تر دے. اسلام شاه وغوښتل چې انتقام له جلال جلو واخلي اګر چې کۀ له وخته د شير شاه اخلاص ئې د اسلام شاه سره درلۀ. اما د مخالفانو شۀ او پس له اظهاره د عصيان او د بې ضبطي رابطه د دوستي او د اخلاص قديمي ئې د وراندې کړه له مخالفانو ئې د اسلام شاه هومره جنګ وکړ چې فتح نمايان شوه او هيڅ امرا دۀ غوندې تردد ونۀ کړ. اما ګاه ګاه به ئې نه ډيرې ابلهي او له جهالت جبلي هسې قول او فعل وکړ چې قابل به د سياست او د بې عزتي شۀ او له ډيره غروره ئې نظر په خپلو ګناهونو چې په سبب د تخلف له دۀ په وقوع راغلي وو نۀ کاوۀ. خپل تردد ئې په خپل تصور منظور ګانۀ. په هر مجلس کښې ئې په خپلو هم چشمو همسرانو چې د اسلام شاه سره موافق وو فخر او سرسترے کاوۀ. او قدم به ئې له خپله حده بيرون کښيښن او په بيهوده ګفتګو به ئې خاطر د اسلام شاه آزرده کاوۀ، په دا سببونو اسلام شاه په دۀ بدمظنه وۀ او فرصت ئې غوښت چې مړ ئې کا. يوه ورځ اسلام شاه له جلال خان جلو سره تر غرميه پورې چوګان واهۀ او ساعت په ساعت ئې شفقت او مهرباني په باب د دۀ فرمائيله. پس له چوګان بازی لاس ئې په لاس د جلال خان جلو کښيښن او خاصه محل ته ئې تشريف وفرمايۀ. او جلال خان جلو ته

نـي ووې تـهٔ کښينه زهٔ اودس کوم راځم او خپلو خدمتګارانو ته ئې ووې چې اتوړی په لاس ا
خـولانـې پـه پښتـو د جـلال خـان واچـوئ او په حجره کښې ئې د خاصه دولت خانې محبوس
کړئ. د جلال خان ورور خداداد نوميدهٔ ډير دلاور او سرباز وهٔ هر ګاه چې خبر د ورور د قيد
نـې واوريدهٔ بې ملاحظې ئې نغاره وکړه او په دولت خانه د بادشاه راروان شهٔ. ډير شورو شر ا
غـوغا پاځيده اسلام شاه سرمست خان سرېنې ته چې صاحب اهتمام وهٔ وفرمائيل چې ورشه ا
ليـونـے معقول کړه او يا ئې ماته راوله. او دې ما له لوريه ورته ووايه چې پايه دې تا د ورور تر
واړو تيـره وه. پـه سبب د اتـحاد او اخلاص حميمي کله کله به له ساده دلی ډيرې د بې ادبی
خبـرې تـرې ظاهـرې شـوے خکه ما حکم وفرمايهٔ چې څو ورځې ئې په قيد کا چې د خوب د
غـفلته بيدار شي او خپل مقام او حد وپيژني. سرمست خان و خداداد ته راغے او وې وئيل د
حـرکـت چـې لـه تا ظاهر شهٔ مګر د ورور دښمن وے. لښکر او جمعيت په مقابلې د بادشاهي
لښکر معلوم چې څهٔ به وکا. په واسطه د ورور د قيد چې درې څلور ورځې دې آغاز د فتنې او
د فسـاد کـوے. او سـعـي د ورور پـه مـرګ اختيـاروے. په مجرد د جنګ به اول سر دې تا
ورور پـرې کـا. نـور بـه دې تا د قوم مونږ ولې وکاږي. او دې تا په شامت به دا هومره قبيله پا
باد د فنا نيسته او نابوده شي. او تهٔ به مشهور په باغي او په نمک حرامی شے اوباوجود له دې
بې ادبی کهٔ اوس وجاروخے هم دې معذرت باقي دے. بائده دې چې بې دهشته او بې وسواسه
دې ما سره په ملازمت د بادشاه روان شه او عذر د خپل تقصير وغواړه او په ميان د اسلام شاه
او دې تـا د ورور لـه زمـانې د شير شاه تر اوسه پورې هومره اخلاص او [۱۵۴] اتحاد صورت
پيـدا کړے نـهٔ دے چـې تاته ډار د ورور د کشتن وي (۱) او دا هـومـره بـې ادبي چې دې تا له
ورور ه پـه وجـود راغـلـې ده هر څوک چې په ځائے د اسلام شاه وے، ژوندے به ئې پرېښے نهٔ
وهٔ. مګر دې تا و هير دې چې په مهم د رائيسين او د اوجين شير شاه دې تا ورور په قيد کړے
وهٔ او رواداره نـې د مـرګ وهٔ. اخـر نـې پـه شفاعت د اسلام شاه نجات بيامونـد. اوس به هم په
مـجرد دې تا د ورتلو ورور به دې پرېږدي. خداداد په دې خبره وغوليد. په دا ردوبدل کښې
عـالـم عـالـم لښـکـر لښکر د اسـلام شـاه د هوا خواهانو په ورهٔ د دربار جمع شهٔ. في الجمله
خداداد جنګ پرېښ او اسلام شاه ته راغے. اسلام شاه خداداد او جلال خان جلو دواړه وروڼه
مـرهٔ کـړهٔ. او له مرګه د دوې ويره او ترس په زړهٔ د هر امرا ځائے ونيو. او قطب خان نيب چې
په ميان د دوآب ئې په مقابله د خواص خان تانه کړې وه له واهمې د طبيعت چې له عادل خان
سـره ئـې مـوافـقـت او د اسـلام شـاه ئې مخالفت اختيار کړے وهٔ وتښتيد. او اعظم همايون ته
لاهـور تـه ورغے. اسلام شاه فرمان و اعظم همايون ته واستوهٔ چې قطب خان نيب په قيد کړه.

اعظم همایون په حسب الحکم قطب خان نیب او بهار خان لوحاني او دولس نور امراګان چې
له عادل خان سره ئې اتفاق کړے وۀ وتړل او پاس ئې و ګوالیر ته وخېژول. (۲) او سعید خان
کشرورور د اعظم همایون هم له ترسه د خان او هم په اشارت د اعظم همایون له مقابله د
جهر که (۳) خپل اسباب او لښکر ئې پرېښ له جریده سورو سره له لښکره د بادشاه وتښتید.
اسلامشاه په واسطه د دې چې مبادا په ملک کښې د پنجاب له دې باغیانو فتنه برپا شي. له
لارې وجاروروت او دهلي ته راغے او په جمعیت ئې د سپاه حکم وفرمایۀ. او په طلب ئې د
اعظم همایون چې حاکم د پنجاب وۀ او د شجاعت خان چې حاکم د مالوې وۀ، فرمان
واستوۀ. شجاعت خان په موجب د امر عالي راغے او ملازمت ئې وکړ. په نوازش د بادشاه
سرفراز شۀ او لس زره سوارۀ ئې تر نظره د اسلام شاه تیر کړۀ. او اعظم همایون له غروره د
جمعیت چې ځلوېښت زره سوارۀ ئې په حکومت د پنجاب جمع کړي وو خیال فاسد ئې و.
دماغ نه وروست بغې ئې اختیار کړه او سر ئې په فساد او په شورش پورته کړ او حکم ئې د
بادشاه قبول نۀ کړ حضور ته رانغے او خواص خان هم حرام نمکي د وړاندې کړه له اعظم
همایون سره متفق شۀ. اسلام شاه له اورېدو د دې خبر په دهلي کښې توقف ونۀ کړ په ډېر
تلوار متوجه په پنجاب شۀ او له هغه طرفه اعظم همایون او خواص خان او نور باغیان ورسره
له لاهوره کوچ په کوچ په مقابله د اسلام شاه راغلل. ډیره د اعظم همایون په نواحي د انبالې
درېدۀ او بارګاه د اسلام شلوهم په تفاوت د دوۀ کروهونو و انبالې ته مشرق رویه برپا شۀ.
اسلام شاه له څو مقربانو سره سور شۀ او په بلند ځائے وددرید چې کیفیت او کمیت او چون و
چند د باغیانو د لښکر معلوم کا. هر ګاه چې اسلام شاه لښکر د مخالفانو ولید هم هورته قائم
شۀ او وې فرمائیل چې په قواعد د سلطنت او په طور د خلافت کښې عیب او اهانت تمام دے
چې لښکر د مخالف ووینې اغماض او چشم پوشي وکا. پس حکم ئې وفرمایۀ چې نقیبان تمام
سپاه تیر خبردار کا او په هغه روش چې فوځونه مقرر شوې دې پټ سپاهیان دې حاضر شي.
هرګاه چې وخت د نماز دیګر وۀ [۱۵۵] هغه ورځ جنګ واقع نۀ شۀ. اما دواړه لښکره یو د
بل سره له ملاحظې درست په میدان د جنګ ولاړ وو. هم هغه شپه خواص خان له اعظم همایون
او له عیسې خان او له سعید خان او له نورو باغیانو سره مصلحت په میان راوړ چې هرګاه فتح
ونیو ته مخ ښکاره کړ. سلطنت په چا مقرر کړے بویه؟ اعظم همایون ووې هر چا چې په
جنګ کښې سبقت او پیش دستي وکړه. دا بیت هغه زمان اعظم همایون ووې. بیت:

ملک میراث نگیرد کسے تا نزند تیغ دتی ہے

خواص خان وپوهیدۀ چې ګمان د سلطنت په ځان لري او په خاطر د خواص خان ګمان دا

رنګ وۀ چې کۀ فتحې له دې جانبه مخ ښکاره کړ چې عادل خان شهزاده له ولایت د پټنې
وبولي سلطنت به په دۀ باندې مقرر کا. خواص خان خپلو مصاحبانو ته ووې چې یقین دے چې
فتح زمونږ روزي شي او اسلام شاه شکست بیامومي او خواهش د سلطنت اعظم همایون لري
پس په مونږ کښې فرق شۀ چې سلطنت د خاندانه د سور واخلو او په نیازیو ئې مقرر کړو
څو ژوندے یم مطعون به د عباد الله شم. پس هرګاه چې سبا دواړه طرفه مقابل شي زۀ به پخوا
تر جنګه حرکت وکړم څنګ به ونیسم چې ماتې په نیازیو ګډه شي. او سلطنت په خاندان
کښې د سور چې زمونږ صاحبان دي برقرار پاتو شي. او په باب دې ما هر چې اراده د
پروردګار وي تغییر او تبدیل به بیا نۀ مومي. في الجمله هرګاه چې اقبال مل د اسلام شاه او
طالع ئې مددګار وۀ دا رنګ مخالفت او غیرت په لښکر کښې د غلیم پیدا شۀ. القصه هرګا
چې نمر وخوت طرفین جنګ واقع شۀ. هرګاه چې اور د جنګ تازه شۀ خواص خان پا
څنګ شۀ وې وئیل چې کۀ ماتې په اسلام شاه ګډه شي نور لازم شول چې نیازي وهم. الغرض
طرفین جنګ ډیر وشۀ لیکن چې حرام نمکي شامت شوم لري. ماتې په نیازیو ګډه شوه
هرګاه چې خواص خان شکست د نیازیو ولید بیا په طرف د کوه کماؤن روان شۀ. سعید خا
کشر ورور د اعظم همایون په ماتې کښې له دوؤ تنو نورو په قصد د اسلام شاه د وهلو
مبارکبادي وئیله. (۲) پټ سپاهیان شوي وو هیڅا نۀ پیژندل راغلل سعید خان مهاوت نه
هاتي پوښتنه وکړه چې مبارکبادي په بادشاه دې وایم. هغه مهاوت دے وپیژاندۀ نارې ئې
کړے چې بادشاه سلامت خبردار شۀ چې دا سعید خان نیازي نمک حرام دے. هغۀ فیلبان پ
نیزه ووهۀ. خول ئې له سره وغورزاوۀ سر برهنه له میدانه ووت او لښکر د نیازیو مخ پا
تیښت ونیو. او هغه رود چې مغرب رویه په قصبې د انبالې واقع دے نیازي ترې راپورې وتلو
وو جنګ ته. بیا هم هغه چې مات شول پرې ورغلل دوي ته بلا شۀ. في الجمله ختې او لا
او اوبۀ د هغه رود ډیرې او ګودر ئې تنګ وۀ. اکثر په هغۀ کښې ښخیدل او پریوتل او لښکر
د بادشاه وهل نیست او نابود ئې کړل. او هر چې ژوندي پاتو شول په لور د دنکوټ (۳
وتښتیدل. اسلام شاه خواجه اویس سرواني له ډیره لښکره سره په نیازیو پسې تعین کړ ا
خود ئې مراجعت و دهلي ته وفرمایۀ. درې میاشتې ئې په دهلي کښې توقف وکړ. نور ئې
پیشخانه په اواز د ښکار په لور د میان دوآب راویسته او میان دوآب شاید په میان د دو
سیندونو څۀ خائے دے. راجه د کماؤن له اوریدو د دې خبر خواص خان ساتلے نۀ شۀ ا
خواص خان هم فاسده اندیښنه له خاطره برطرف کړه. په ملازمت د اسلام شاه و دهلي ت
راغے. اسلام شاه [۱۵٦] وفرمائیل دا کار صورت پذیر نۀ دے. په دا میان کښې شجاع

خان لـه گـوالیـره و مالوې ته وتښتیدهٔ. اسلام شاه په اوریدو د دې خبر عیسيٰ خان حجاب له شلو زرو سوړو سره په سبب د شورش د شجاعت خان و مالوې ته تعین کړ او خود ئې په لور د پنجاب کوچ وفرمایهٔ. هر ګاه چې اهل و عیال د نیازیو په ملازمت د اسلام شاه راغلل حکم ئې وفـرمایـهٔ چې ارتیـنـې د هـغـو درې واړو نیازیو چې نمک حرام دي په بازار کښې خیمه وډروئ و دوي تـه خـائے ورکړئ او لونډان د بازار دې ئې حبطه کوي. او په ورځ د شنبه ئې و دربـار تـه راولـئ. پـه موجب د حکم د بادشاه به ئې په ورځ د شنبې هغه ارتینې د دوي و دربار عام تـه راوستـے او نـقیبانو به ناري کړے چې عیسيٰ خان نیازي او اعظم همایون او سعید خان نیزي مجرے کا. په دا کار دوه کاله تیر شول. القصه اسلام شاه کوچ په کوچ لاهور ته راغـے خو ورځـې ئې په لاهور کښې توقف وکړ. نور په دفع د فساد د نیازیو مشغول شهٔ. دوه کاله د نیازیـو سـره جنګ وشهٔ. په دا سبب ګکهړ پائمال شول. هم په دا میان کښې یوه ورځ اسلام شاه سور وهٔ په کوټ خانه یو شخص وکښلے توره پټ په ځنګ ولاړ وهٔ ګزار ئې په اسلام شاه وکـړ. ګزار په اس برابر شهٔ. اسلام شاه له اسه ترپ لل هغه شخص ئې په غیږ کښې ونیو وې فرمائـیـل چې مړ ئې کا. دولت خان اجیاله ووئیل چې تحقیق ئې کړے بویه. اسلام شاه ووئیل پـریـږده مـړ ئـې کا خوني به د ډیرو وراني کا. هغه شخص ئې په هغه خائے په هغه توره مړ کړ اسـلام شـاه هغه توره وپیژندله له خود ئې و اقبال خان ته بخښلې وه. القصه هر ګاه چې ګهکړه په مرګ د ځوانانو او په خرابي د ملک خراب شول او قوت او استعداد د جنګ ورته پاتو نهٔ شـهٔ اعـظـم هـمـایـون او نـورو نیـازیـو مـلـک د ګکهړ ئې پریښ. و غرونو ته د کشمیر لاړل. حـاکـمانو د کشمیر په لیدل د ګکهړو د احوال او له لښکره د بادشاه وویریدل لار ئې ونیوله. هغـه نـمـک حـرام ئـې و خپـل ملک ته نهٔ پریښول. في الجمله پس له ډیره جنګه حاکمان د کشـمـیـر پرې غالب شول مړهٔ ئې کړهٔ او سرونه ئې د دې درې واړو یعنې د اعظم همایون او د سـعیـد خان او د عیسيٰ خان پرې کړهٔ او حضور ته ئې راستول. پس له هغه اسلام شاه په جمع خـاطـر مراجعت وفرمایهٔ. او په سبب ئې د بعضې امراګانو پښتنو چې مخالف وو او توره ئې و هغه شخص ته په وهل د اسلام شاه ورکړې وه علوفه د تمام سپاه او جاګیرونه ئې د کم او ستر د امراګانو تغیر کړهٔ او داخل ئې په خالصه شریفه کړهٔ. هر ګاه چې لاهور ته راغـے مرزا کامران ورور د هـمـایـون بـادشـاه لـه هـمـایـونـه آزرده خـاطـر و اسلام شاه ته راغـے. په وخت د ملازم سـرمـسـت خـان سړبني چې صاحب اهتمام او میر توزک وهٔ مرزا کامران تر لاسه ونیو عرض ئې وکړ چې ورور د کابل د مقدم سلام کا. اسلام شاه له ډیره تکبره او له تجاسره چې ئې درلهٔ لتـفـات ورته ونهٔ کړ خو درې خله هم دا ګفتار سرمست خان په اواز بلند ووې. پس له هغه

اسلام شاه تر بنو لاندي ورته نظر وكړ. مرزا كامران صورت د مجلس معلوم كړ چې اسلام شاه په لږ مخالفت امراگان د پلار منظور نهٔ كړل او واړه ئې مړهٔ كړهٔ ما به چرې ژوندے پريږدي. په دولي كښې كښيناست په غرو د سوالک راغے بيا كابل ته لاړ شهٔ. وائي چې لس ورځې په اردو كښې د بادشاه وهٔ. پس له هغه اسلام شاه له لاهوره [۱۵۷] كوچ وفرمايهٔ او دهلي ته راغے. په دهلي كښې حرارت او گرمي د طبيعت پرې غلبه وكړه. بنياد د اسلام گړهـ په ميان د اوبو متصل د دهلي ئې برپا كړهٔ او دپاره د دفع د حرارت او د گرمي د طبيعت حكيمانو د وينې وكښلو د اسلام شاه حكم وكړ اويا ژورې ئې په مرى ولگولے. په دا ميان كښې ډاک ځوكے لـه پنجاب راغے او خبر ئې راوړ چې همايون بادشاه په تسخير د هندوستان تر سينده د نيلاب (۱) راپورې شهٔ. اسلام شاه په مجرد د دې خبر ژورې لرې كړے. اس ئې زين وغوښت سور شهٔ او درې كروهه منزل ئې وكړ او ديرش زره سوارهٔ بې جاگيره او بې علوفه پخوا وو تر پيش خانې و منزل ته ورسيدل. كهٔ هر څو وزيرانو ورته ووې چې تمام سپاه بې جاگيره او بې علوفه دي لږ څهٔ امداد او مدد د خرڅې ورته بويه چې ضروري سامان تر سره كا. اسلام شاه ورته ووې چې كهٔ اوس رعايت د امداد او خرڅې وكرم دوي به وائي چې مهم اسلام شاه ته پيښ شهٔ اوس له مونږه داد مدارات كا. هر څوک چې راځي راځي دې. القصه تمام سپاه بې جاگيره او بې علوفې ورسره لاړ شهٔ. د دهٔ له ترسه او له هيبته چاته زهره د دم وهـنې نهٔ وه چې پستنه پاتو شوے او هم عرض ورته وشهٔ چې غوا ٔ ايرابے (۲) په پرگنو كښې دې حكم ئې وفرمايهٔ چې پياده جمع كړئ. توپونه وشكوئ. وائي چې توپونه لوئے وو چې هر يو زر زر تنو څكاوهٔ. او هره ورځ دولس كروهه تهٔ. او دا توپونه پخوا تر واړو و منزل ته ئې رسول. كوچ په كوچ تر قصبې د لودهيانې ورسيد. همايون بادشاه لـه اوريدو د دې خبر او د تلاش او تردد وجارووت بيا و كابل ته ولاړ. اسلام شاه د دې خبر له اوريدو مراجعت وفرمايهٔ. راتلهٔ د همايون تر نيلاب پورې وتل بيا جاروتل مطلب دا ځل تسخير د هندوستان نهٔ وهٔ. سبب ئې دا وهٔ چې مرزا كامران له دهٔ راوتبښ. اسلام شاه ته ولغے بيا فرار شهٔ. سلطان آدم گكهړ ته ورغے. همايون ته ئې وكښل. په هغه ورځ همايون په بنگښ كښې وهٔ. چې تر نيلابه راپورې شه چې زهٔ بدنام كننده درولم. په دا سبب تر نيلاب پورې شوے وهٔ. كامران سلطان آدم راوست دواړه سترگې ئې رندې كړے لـه خرڅ د خپلو مصاحبانو سره په بيړى كښې ئې د نيلاب په آب سندهـ كښې په لور د حجاز روان كړو حج ئې وكړ. په شام كښې وفات شهٔ. (۳) و گوالير ته ولاړ. (۴) او حكم ئې وفرمايهٔ چې طلب د دوؤ كالونو د تمام سپاه هم د جاگير هم د علوفې بې داغه او بې تصحيحه له سركاره

ورکړي. او آئنده طلب دي په دستور سابق حواله په جاګير وي. وائي چې يوه ورځ اسلام شاه په نواحي د قصبې د انتري (۵) په ښکار مشغول وه ځنو کوتاه انديشانو په ګمراهی د بعضې ناعاقبت انديشانو لار ونيوه چې اسلام شاه هلاک کا. په سبب د اتفاق اسلام شاه په بلې لارې ولاړ شه. هرګاه چې دا خبر و اسلام شاه ته ورسيد په عقل او په فراست ئې معلوم کړه. چې دا کار د چا دے ليکن راز ئې پټ وساته څو ئې هغه کسان مړه کړه. اسلام شاه په اخر د سلطنت په وارو امراګانو بدمظنه شو او په هر يوه چې به لږ بد ګمان شه يا قيد يا به ئې مړ کړ څو ئې خپل خاطر له وسواسه جمع کړ هالهٔ ئې طرح د اقامت په ګواليرو کړه او په عيش او په عشرت او په عدل انصاف ئې عمر تيراوه. وائي چې يوه ورځ بعضو مقربانو ورته ونيل [۱۵۸] چې يو فقير درويش وائي (۱) خواجه حسن نومي او په ذات پښتون دے او اونات په خلاف د شرع محمدي تيروي. او ارتينې په سبب د توري و تعويذ شب و روز ورخي او فرض او سنت ئې ترک کړي دي. اوقات په دا شغل صرفوي. اسلام شاه په ونيل د بعضو بې خبرانو چې له اسراره دې پرورد ګار آګاه نهٔ وو هغه درويش وبالهٔ او استفسار ئې د ترک د صلوات تري وکړ کهٔ هر څو ئې پوښتيد درويش ځواب نهٔ ورکاوهٔ. او مُهر ئې د سکوت په خلې وهلے وهٔ. اسلام شاه په غصه شو او لتې ئې وفرمائيلے او وې ونيل کهٔ پس له داله تا مخالف د شرع واورم موافق به د شريعت غرا تا په اور کښې وسوځوم. درويش ووې کهٔ خود ونهٔ سوځے دا نې ووې نور ووت. شيخ مصلح الدين سعدي په باب د درويشانو فرمائيلي دي فرد:

اگر بخت یارست زیشان رمی که صورت آدمی

سا ته يو دنبل ورستو پښو ته (۲) د اسلام شاه ښکاره شهٔ. لرزه ئې په تمام صورت ګډه شوه او وړ به ئې چې وسوم وسوم. کهٔ هر څو ئې جستجوئے د درويش وکړه بيا ئې نهٔ موند. القصه کهٔ هر څو طبيبانو، حکيمانو چې هر يو جالينوس او افلاطون د خپل وخت وهٔ په علاج د دهٔ دارو ترتيب کړهٔ لا ئې سوے زياتيدهٔ او سعي د دوي فائده ونهٔ کړه. خوراک او خوب ئې ورک شهٔ. ساعت په ساعت به بيهوش شهٔ. هرګاه چې په هوش به راغے او ستر کې به ئې پورته کړے ومخ ته به ئې د دولت اجياله وکتل او اوښکې به ئې د حسرت په مخ دانه دانه شوے او دا دولت خان اجياله هميشه به و دهٔ ته حاضر وهٔ. لږ ډير چې به فرصت له رنځه لاس ورکړ نظر بدئې په دهٔ وهٔ او تر اخرې ساه پورې ئې له ليدو موړ نهٔ شهٔ. بيت:

جان نداده فرشته محمود دره صورت ایاز

وائي چې دا دولت خان پسر خوانده د شجاعت خان وهٔ. يعنې شجاعت خان په فرزند نيولے

وۀ او مقرره علوفه ئې نۀ وه. اما حکم د اسلام شاه په باب د دۀ دا رنګ صادر وۀ چې کۀ يو لک روپۍ دې روزمره له خزانې اخلي لاس دې ئې نيوۀ نۀ شي. القصه په وخت د نزع تاج محمد کرلاني او شاه محمد فرملي چې مصاحب او هم نشين د دۀ وو اشارت ئې ورته وکړ چې حال دې څۀ دے هرګاه چې اسلام شاه ته خپل حال معلوم وۀ دا ئې مصرع د حسن ووې. بيت:

حسن سخن طرز دګر شد — القضا عمی البصر شد

په تقدير د پروردګار په تاريخ د اتويشتم مياشت د ذوالحجه انصو يو شپيتۀ (۳) وۀ ځان ئې و جان آفرين ته وسپارۀ. او سلطنت د اسلام شاه اتۀ کاله اتۀ مياشتې او اووۀ ورځې وۀ او په دغه کال کښې درې بادشاهانو له دار فنا و دار بقا ته کوچ وفرمايۀ. لکه شاه طاهر دکني (۴) تاريخ د دې درې واړو بادشاهانو له ملکه د عدم و شهرستان ته د وجود دا رنګ راوړے دے:

سه خسرو را زوال آمد بيک سال — که هند از عدل شان دارالامان بود
يکے محمود شاہنشاہ گجرات — کہ ہمچون دولت خود نوجوان
دویم نظام الملک بحری — کہ در ملک دکن خسرو نشان بود
سیوم اسلام شاہ سلطان دہلی — کہ زو ہندوستان چون گلستان بود
زمن تاریخ فوت این سہ خسرو — چہ می پرسی زوال [۱۵۹] خسروان بود(۱)

ذکر دے په بيان د عدلي او د باز بهادر او نورو لوحانيو

پس له هغه امراګانو د دولت او ارکانو د سلطنت پس له تجهيزه او له تکفينه تابوت د اسلام شاه سهسرام ته راوړ او وزيرانو يو د بله په اتفاق فيروز خان ځوے د اسلام شاه چې په عمر دولس کاله وۀ. په مستقر الخلافت ګواليار کښې په تخت د سلطنت کښيناوۀ. او له هر طرفه ئې نذر او نياز او تحفې پرې نثار کړے او سکه او خطبه ئې په نامه د دۀ مزينه کړه. پس له دريو ورځو مبارز خان ځوے د نظام خان چې وررور د شير شاه وۀ او سکه خور د مبارز خان په نکاح کښې د اسلام شاه وه او نوم ئې بي بي بائي وۀ او اسلام شاه پرې ډير مئين او مهربان وۀ تر هسې حده چې بې د دې له اذنه و بل محل ته نۀ تۀ او هميشه د دې په مواصلت خورسند او خورم وۀ. مبارز خان په بهانه د خور د ليدو و محل ته د اسلام شاه راغے. فيروز خان ځوے د اسلام شاه ئې مړ کړ کۀ هر څو بي بي بائي ارتينې د اسلام شاه ژړا او زارې وکړه چې دا هلک نامرده مۀ وژنه چې زۀ هم دا يو ځوے فرزند لرم. او قسم ئې وخوړ چې هرګز نوم د بادشاهۍ په خلۀ اخستونے نۀ يم او دا ځوے به روان کړم و دکن ته به ځم او هغه نيکي دې ما ياده کړه چې هميشه اسلام شاه قصد دې تا د مرګ درلۀ او ما په زارۍ او په عاجزۍ دې تا

شفاعت کاوۀ. او اسلام شاه فرمائیل چې کۀ بادشاهي د خپل خوي غواړې پرېږده چې مبارز
خان مړ کړم او ما بــه ورتــه وې چې دې ما یو وړور دے. هرګاه چې دے مړ کړے دې تا
بادشاهي دې ما په څۀ کار راځي. څو اسلام شاه لاس دې تا له مرګه وساتۀ. الغرض چې زاري
او ژړا، هغې ضعیفې په زړۀ د مبارز خان هیڅ تاثیر ونکړ او ورته ئې وونیل دې تا خوړے
ملک دے لائق د لوبو، نۀ د بادشاهی دے پس له هغه ئې فیروز خان په توره وواهۀ په
شهادت مشرف شۀ. بنا برضرور هرګاه چې په کور کښې بل وارث پاتو نۀ شۀ امرایان خوا نا
خواه په سلطنت د دۀ راضي شول. مبارز خان خپل ځان په خطاب د سلطان محمد عادل
مخاطب کړ په تخت د سلطنت کښیناست او سکه او خطبه ئې په خپله نامه ولوسته. او د
خواص خان وړور د شمشیر خان خوړے د سُکها ئې په خپل وزارت مخصوص او ممتاز کړ
کړ چې کۀ ځان ئې په خطاب د سلطان محمد عادل مخاطب کړ اما خلق الله ورته عدلي وے
مرګه چې په تواریخ کښې ئې زر بخښل د تغلق شاه لیدلي وو په تقلید ئې د تغلق شاه ور د
خزانې پرانتۀ او خلق ئې په ډېر انعام بهرمند کړ او وې وئیل تکه د پونصو تورو سازه کړئ او
په هر ور به ئې ګزارله. هر چا کره چې به تکه پریوتله پونصو تورې به ئې هغۀ ته ور کړے او
تکه به ې ترې واخسته. په دا وخت کښې هیمون بقال چې ساکن د قصبې د ریواړي (۳) وۀ او
غله ئې تلله په سرکار کښې ئې د عدلي اعتبار پیدا کړ اول مشرف د باورچي خانې شۀ. رفته
رفته مقرب د عدلي شۀ. هرګاه چې خبر د عدلي د سلطنت او د فیروز خان د شهادت و
مراګانو ته د سرحد ورسید هر کس خانے په خانے سر د مخالفت هسک کړ او هوس د
سلطنت ور ولاړ شۀ. تر هسې حده چې ملک په ملک ښهر په ښهر فتنه فساد قائم شۀ او
همایون بادشاه شاه طماش ته چې بادشاه د عراق او خراسان (۴) وۀ لاړ وۀ کومک ئې
اوستلے وۀ په کابل کښې ناست وۀ. له اوریدو د دې خبر په تسخیر [۱۶۰] د هندوستان
روان شۀ. هرګاه چې لاهور ته راغے په لاهور کښې سکندر خان سور چې احوال به ئې په
تفصیل مذکور شي فساد برپا کړ خیال ئې د سلطنت په سر کښې وۀ اما تاب ئې د مقاومت
رانۀ و په لور د کوه دامن و پنجاب ته روان شۀ. همایون بادشاه په دا کشمکش د هندوستان
دویم حل و دهلي ته تشریف وفرمایۀ. او جلال الدین اکبر شهزاده ئې په سر د سکندر خان په
پنجاب تعین کړ. وائي چې همایون په دغه وخت وئیل چې زۀ مزارات او قبرونه د دهلي وړینم
مرګ ِیاد شي. هم په دغه کال چې سن انصو دوه شپیتۀ وۀ همایون پس د نماز خفتن د مانځۀ
له بامه کوز راتۀ ناګاه ئې همسا له پاونی خطا شوه. چې زمکې ته راتۀ ساه ئې نۀ وه لکه تاریخ
د همایون رضوان پناه له دې مصرعې معلومیږي مصرع:

همایون بادشاه از بام افتاد (۱)

او هر گاه شهزاده جلال الدين محمد اكبر په قصبه كښې د كلانور (۲) په تخت د سلطنت جلوس وفرمايۀ. اوس مناسب دا دي چې احوال د عدلي او نورې واقعې په قلم راوړم. يو ورځ په دربار كښې د بادشاه واړه امراگان حاضر وو او جاگيرونه ويشل شول. په دا ميان كښې په حكم د عدلي قنوج نې له شاه محمد واخست او په جاگير نې د سرمست خان سربني مقرر كړ. سكندر خان چې خوى د شاه محمد فرملي وۀ وې وئيل اوس كار دې مونږ په دا ځائے ورسيد چې جاگير دې مونږ و سربني سنگ فروش (۳) ته وركاوۀ شي. په دا خبر سخت وئيل په دواړه لوريه وشول. شاه محمد سكندر خان له سخت وئيلو منع كړ. سكندر خان ورته ووې چې شير شاه يو ځل قيد كړے او قصد نې دې تا د مرگ وۀ. اما اسلام شاه دې تا شفاعت وكړ له مرگه نې خلاص كړے اوس دغه ډله په تا زغلي او تۀ نۀ پوهيږے دا هومره خجالت او زبوني په څۀ ځكوے؟ په دا ميان كښې سرمست خان سربني چې ډير قدآور او خوان وۀ په طريق د نرمي او مدارات لاس په اوږو د سكندر خان كښيښې چې دستگير نې ونيسي. او ورته نې ووئيل اے بابا دا هومره غصه او قهر په څۀ ده؟ سكندر خان مطلب د دۀ معلوم كړ جمدهر نې وكيښ هسې نې وواهۀ چې آه نې ونكړ شور او غلغله په دربار كښې برپا شوه. خلقو قصد د سكندر خان د نيوو وكړ او دې وكښلے توره گرزيدۀ. په هر لور چې به نې مخ ونيو خلق به نې مړ مجروح كړ او عدلي له ليدو د دې واقعې و محل ته ترپ لل سكندر خان پسې دۀ كړ ليكن عدلي په ستر ننه ووت او ور نې پورې كړ او ډير امراگان پا تيښت له درباره ووتل. دوه گړى دا صحبت برپا وۀ. په دا ميان كښې ابراهيم خان سور چې اخښے (۴) د عدلي وۀ سكندر خان نې زخمي كړ او له هره طرفه خلق پرې وزغاښت مړ نې كړ. او دولت خان لوحاني شاه محمد فرملي په توره ؤواهۀ داربقا ته نې واستوۀ. تفرقه عظيم په جمعيت د امراگانو گډه شوه. او دربار د عدلي سپک او بې قرار شۀ. او شكوه چې لازمه سلطنت وۀ معدوم مطلق شۀ. او سرداران يو د بله متنفر شول. تاج ورور د سليمان پخوا تر دې واقعې او كيلانو نې د امراگانو حقيقت موندلے وۀ له ديوان خانې د عدلي روان په خو كښې د گواليرد كوټ تۀ (۵) اتفاقاً شاه محمد فرملي [۱ ۲ ۱] په مخه ورغے حقيقت او احوال نې ورته ووې چې دربار بل طرز پيدا كړ. ترس او هيبت د عدلي په خاطر كښې د هيڅ يوۀ امرا نشته واړه يو د بله په ديوان خانه كښې په حضور د عدلي نامشروع او نا ښائست خبرې په اواز بلند وائي. دا رنگ روزگار اوريدلے او ليدلے شوے نۀ وۀ. اوس خلاصے ا نجات له دې مجلس په گوښه كښې دے. زۀ بيا دربار ته راتلونے نۀ يم. راځه چې يو ځائے پ

اتـفـان عـمـر تيـروۇ گوره سرانجام ئې د دې مجلس خرگند شي. هرگاه چې قضا غوښتوني د شاه محمد فرملي وه مصلحت ئې قبول نۀ کړ ځو مجلس ته ورغے سر ئې بائللۀ. تاج و کور ته راغے سـرانـجـام ئـې د تیښت کاوۀ دا واقعه وروړسيده. نمازدیگر په لور د بنگالې روان شۀ. عـدلي له اوریدو د دې خبر فوځ پسې تعین کړ او خود هم په فوځ پسې روان شۀ. په دا میان کښې هیـمـون بقال عدلي ته ووی چې کۀ جمعیت دې ما سره حکم شي زۀ به ئې علاج په ښۀ وجهه وکړم. عـدلـي جـمعیت د هیمون سره کړ هرگاه چې هیمون بقال نژدې ورسید جنگ واقع شۀ. فتح هیمون وکړه. په دا میان کښې ابراهیم خان سور چې خور د عدلي د دۀ په نکاح کښې وه ارتینې خبر وروړساوۀ چې عدلي قصد دې تا د مرگ لري یا نن یا سبا تا هلاک کا. په داسبب نژدې د چنار له لښکره د عدلي و تښتید و بیانې ته چې پلار د دۀ حاکم د هغه ځائے وۀ روان شـۀ. عـدلـي عیسي خان لوحانے پسې تعین کړ په نواحې د کالپی عظیم جنگ واقع شـۀ فـتح روزي د ابـراهیـم سـوري شـوه. له هغه ځایه ئې دوړ وکړ دهلي ته راغے خطبه ئې په خپـله نـامـه ولـوسـتـه نور ئې جمعیت ونیو اگرې ته راغے او د اگرې پرگنې ئې پخپل تصرف کـړے او ډیـر استـعـداد او اسـتـقلال ئې پیدا کړ عدلي له اوریدو د دې خبر په دفع د دۀ توجه وفـرمائیله. هرگاه چې په آب جون راغے ابراهیم خان آرزو د صلح وکړه او سرے ئې و عدلي تـه وسـتوۀ چې کۀ رائے حسین جلواني (۱) او بهـاړ خـان سرواني چې شیر شاه (۲) خطاب د اعـظم همایون ورکړے وۀ (۳) مـاتـه راشـي او قول او قرار وکا دې تا ملازمت قبلوم. عدلي دا امـراگـان ورسـتـول. ابـراهیـم خـان سـور واړه د ځـان سـره متـفـق کړۀ او نښان ئې د مخالفت واخـسـت. عـدلـي تـاب د مـقـاومت رانۀ وړ مراجعت ئې و چنار ته وفرمایۀ. ابراهیم خان سور خپـل ځـان پـه سـلطان ابراهیم مخاطب کړ او خیال ئې د سلطنت په سر کښې پیدا کړ او بل احـمد خان سور چې دے هم تربور د شیر شاه وۀ او خور د عدلي په نکاح کښې د دۀ وه. او له تـعینت د امراگانو د پنجاب وۀ په مدد او په اعانت ئې د تاتار خان کاسي او حبیب خان کاکړ او نـعـیـب خـان چې لوئے امراگان وو خپل ځان ئې مخاطب په سلطان سکندر کړ او طغ ئې د فتنـې بلند کړ. په سر د ابراهیم خان سور راروان شۀ. او نژدې د موضع د فره (۴) چې په لس کـروهـه اگـرې ته نژدې دے طرفین په مقابلې مخ ښکاره کړ. هرگاه چې لښکر د سکندر لس زره هـم نـۀ وۀ. او لښـکـر د ابـراهیـم خـان اویـا زره سـوارۀ وو او شلو امراگانو ته ئې خیمې د بخملو او نغارې او نښانونه ئې ورکړې وو. سکندر خان ملاحظه د دۀ د لښکر په خاطر راوړه. دا ئې ورنیـل صـلـح بهتر [۱۶۲] ده کۀ جنگ؟ و ابراهیم خان سور ته ئې پیغام راستوۀ چې پـنـجـاب دې د تـا پـه تصرف وي. ابراهیم خان په خپل جمعیت او لښکر مغرور وۀ صلح ئې

قبوله نه کړه. بلکه ورځ ئې صفونه د جنګ ترتیب کړهٔ. مستعد د جنګ شهٔ. په حکم د نه
قاطع او برهان ساطع چې "كم من فئة قليلة غلبت فئة كبيرة باذن الله" . سکندر خان غا
شهٔ او ابراهيم خان شکست بیاموند او په طرف د سنبل روان شهٔ. او سکندر خان په ف
فیروزی له اګرې و دهلي ته مراجعت وفرمایهٔ. او اطراف او جوانب ئې د دهلي په خ
تصرف کړ او ابراهیم خان سور له سنبله و کالپی ته لاړ. په دا وخت عدلي فرصت بیامو
هیمون بقال چې وزیر د دهٔ وهٔ له ډیره لښکره او له پونصو هاتیانو او له بې‌شماره توپخانې س
ئې په طرف د دهلي تعین کړ. هرګاه چې هیمون و کالپی ته ورسید رفع دفع ئې د ابراه
سور مقدمه کړه په جنګ ئې د دهٔ تلوار وکړه. پس له ملاقاته طرفین جنګ واقع شهٔ. ابراه
خان شکست بیاموند په ماتې و پلار ته چې بیانه کښې وهٔ ورغے او په کوټ د بیانې کښ
متحصن شهٔ. هیمون ورپسې لاړ. درې میاشتې ئې کوټ محاصره کړ په دا میان کښې محم
خان سور چې حکومت ئې د بنګالې درلهٔ طغ ئې د مخالفت بلند کړ او په تسخیر د جونپو
متوجه شهٔ. عدلي په اوریدو د دې خبر هیمون خان ته وبلهٔ. هرګاه چې هیمون په موضع مند
کړهه (۱) راغے ابراهیم له قلعه د بیانې ورپسې راروان شهٔ. جنګ ئې وکړ مات شهٔ
شرمندګی و پلار ته ورتلے نهٔ شهٔ او د راجا رامچند سره ئې چې حاکم د پټنې (۲) وهٔ سلوک
کولے نهٔ شهٔ بنا برضرور ئې جنګ ورسره وکړ. شکست ئې بیاموند. دستګیر ونیو شهٔ. را
په سبب د مروت او د دور اندیشی پاس په مسند کښیناوهٔ او خود لاندې د مسند کښیناست
ابراهیم څو ورځې هورته تیرې کړے. پس له هغه په استدعا او په طلب د پښتنو و مالوې ئ
لاړ. هرګاه چې هورته اسباب د کار ورته میسر نهٔ وهٔ په لور د بنګالې لاړ. په دغه وخت چ
سن انصو پینځهٔ اویا وهٔ سلیمان غلبه او تسلط په ولایت کښې د اوړیسې پیدا کړے وهٔ
ابراهیم په قول او په اقرار ورغے. (۳) په مکر او په فریب ئې سلیمان مر کړ او هیمون پس ا
فتح د ابراهیم په موضع د چهپر کټهه (۵) د محمد خان سره جنګ وکړ مړ ئې کړ او ډیر مال
او متاع په لاس د هیمون کښیوت په تمام استعداد او قوت په جنګ د تاج کرلانې په طرف
بهار روان شهٔ. په دا وخت کښې همایون له دارفنا رحلت کړے وهٔ او اکبر شاه په کلانو
کښې په تخت د سلطنت جلوس فرمائیلے وهٔ. لکه پخوا دا مذکور په قید د کتابت راغلے
دے في الجمله اکبر بادشاه متوجه په تسخیر د دهلي شهٔ او عدلي په اوریدو د دې خب
هیمون په مقابله د اکبر تعین کړ او فوځونه د مغل له سکندر خان او له اوزبک خانه او له قیا
خان (۶) کنګه سره و اګرې ته راغلي وو. په ورتلل د هیمون په اګره کښې نهٔ توانیدل چې
استقامت وکا. و دهلي ته ئې مراجعت وفرمایهٔ. له لښکره د محمد خان (۷) ملهٔ شول. هالهٔ پ

جنګ د هیمون متوجه شول. پس له مقابلې په منزل د پلوک جنګ واقع شهٔ. هرګاه چې لښکر د هیمون ډیر وهٔ محمد خان او قیام خان او سکندر خان او اوزبک خان شکست بیامونډ. په طرف د اکبر بادشاه روان شول. او هیمون ډ دهلي ته لاړ [۱۶۳] څو ورځې ئې قیام وکړ نور ئې سامان او سرانجام د لښکر وکړ په مقابله د اکبر بادشاه متوجه شهٔ. هیمون په علانیه وئیلي وو چې کهٔ دهلي په قید د تصرف راشي په شرف د اسلام به مشرف شم. هرګاه چې دا سعادت نصیب د دهٔ نهٔ وهٔ وعده ئې ماته کړه. په ابدي شقاوت کښې پاتو شهٔ. او هم د پښتنو سره ئې ډیره بدسلوکي اختیار کړه او کهٔ سپاه به ئې په مهماني وبالهٔ خود به پاس د چندنو په جهروکه کښې کښیناست چې لاس به د هیچا هورته نهٔ رسید او کهٔ پښتنو به ورته بد وئیل په دا سبب واړه سرداران د پښتنو آزرده خاطر وو او قول او اقرار ئې یو د بله کړے وو چې په سخت ځائے کښې لاس له دهٔ وکښلے بویه چې لاعلاج داخل په جهنم شي. او منتظر د فرصت وو څو په منزل د سوني پت (۱) له لښکره د اکبر بادشاه مقابله پیښه شوه. پښتنو بې جنګه بې جدله تیښت اختیار کړ. په دا میان کښې هیمون په اړخ (۲) په غشي وریشت شهٔ. (۱۲) او هغه ورځ په هغه هاتي چې هوائي نومیدهٔ سور وهٔ. هرګاه چې زخم د غشي کارګر وهٔ ماوت ته ئې ووئیل چې کهٔ توانیږے ماله جنګه په یوهٔ طرف وباسه او تقصیر په د باب مهٔ کوه. ماوت هاتي له جنګه وجاریوست او مخ ئې په تیښت ونیو ناګاه په دا وخت کښې شاه قلي خان پرې برابر شهٔ له ماوته ئې پوښتنه وکړه چې رښتیا وایه چې هیمون لعین څهٔ شهٔ. ماوت له ویرې ووئیل چې پاس په انبالی کښې دے. شاه قلي خان هیمون له هاتي کوز کړ او په ملازمت ئې د اکبر بادشاه راوست. په نتیجه د دې خدمت په لوئے منصب سرفراز شهٔ. او هم هغه ساعت ئې نښان او نغاره بیامونده. هرګاه چې هیمون ئې و حضور ته ورروست لږ څهٔ ئې له ژوندون پاتو وهٔ. اکبر بادشاه په خپل لاس په نیت د غزا سر د هغه کافر په توره له تنې ناپاکې پریکړ او په خطاب د اکبر بادشاه غازي له هغې ورځې مخاطب شهٔ. او حکم ئې وفرمایهٔ چې تن ئې و مزبله (۳) ته واچوئ. او عدلي په اوریدو د دې خبر ډیر مذبذب او مشوش شهٔ او خضر خان ځوے د محمد خان له اوریدو ئې د پلار د مرګ په ښهر کښې د ګوړ خطبه ولوسته او په انتقام ئې د پلار د خون جمعیت پیدا کړ او په سر د عدلي راروان شهٔ. په تقدیر د پروردګار شکست عدلي بیامونډ او عدلي په دا جنګ کښې نهایت تالاش او تردد وکړ لیکن مړ شهٔ. او خضر خان تابوت د دهٔ په پښې پورې د هاتي وتاړهٔ و ښهر ته ئې ښکاره کړ او په دغه وخت کښې ساه په عدلي کښې ګرزیده. زده کړه جهان ځائے د مکافات دے چا وکړل چې بیا ئې نهٔ موندل. فرد:

جهـان خـائـے د مـکـافـات دے بـد بـــه مـومـــي چــي بـد کــا

عـدلـي د ځو ورځو په حکومت چې مگر عيش پکښې وکا دا رنگ طوق د بدنامی و غاړې ته واچـاوهٔ. او ځان ئې و جهنم ته ساز کړ او له شامته ئې دا فعل وکړ. قوت سلطنت له قوم د سور بـلـکـې لـه تمامو پښتنو ووت. او مدت ئې د سلطنت په څهٔ کم درې کاله په دا ښور ماښور او تفرقه کښې تير شهٔ. (۴) پس له هغه باز بهادر طغ د سلطنت په ملک د مالوې بلند کړ هر گاه چې حکومت د باز بهادر پيوسته د واقعې د عدلي وهٔ ځکه ئې لږ څهٔ له احواله پيوسته په عدلي پـورې پـه قيـد د قـلـم راغـلـل او بـاز بهـادر ځوے د شجاعت خان سور وهٔ. او اصلي نوم د دهٔ اسماعيل خان وهٔ (۵) هـر گـاه چـې ابـراهيم شاه بنگالي ئې په غشي وويشت او مړ ئې کړ شير شـاه دے پـه خـطـاب [۱۶۴] د شجاعت خان مخاطب کړ هر گاه چې شير شاه په جوار د حق مشـرف شهٔ او کار د سلطنت په اسلام شاه قرار ونيو اگر چې اسلام شاه ته دل په دهٔ مهربان نهٔ وهٔ ليـکـن پـه رعـايت د خاطر د دولت خان اوجياله چې شجاعت خان په ځوې ياد کړے وهٔ او اسـلام شـاه کمال محبت په دولت خان درلهٔ. په دا سبب ئې حکومت د مالوې په دستور سابق و شـجاعت خان ته پريښے وهٔ. او دے له ترسه د اسلام شاه تښتيدلے و گجرات ته لاړ وهٔ. پس لـه فـوتـه د اسلام شاه بيا و مالوې ته راغے په مالوه کښې ئې امانت د حيات ورکړ بيا بازبهادر چـې رشيـد فرزند د دهٔ وهٔ په تفرقه د عدلي د سلطنت تسلط او غلبه پيدا کړه خطبه ئې په خپله نـامـه ولوسته او سکه ئې په خپله نامه سازه کړه. په دا ميان کښې دولت خان اوجياله له اوجينه او مـصـطفي له پرگنې د نولالی (۱) لـه درې ورونـو نورو سره متفق شهٔ په رفع او په دفع د باز بهـادر مـليـه ئـې د سعي وتړله په سر د باز بهادر راروان شهٔ. باز بهادر هم متوجه د جنگ شهٔ. طـرفيـن عظيم جنگ وشهٔ. دولت خان او مصطفيٰ خان شکست بياموند مخ ئې په تيښت ونيو او زميندارانو ته ئې پناه ورووړه. (۲) بازبهادر ورپسې ورغے زمينداران ساتلے نهٔ شول دستگير ئـې ورکـړل. په ميان د لارې مصطفيٰ خان له قيده وتښتيد او دولت خان باز بهادر مړ کړ نور پـه پـے د مصطفيٰ خان روان شهٔ. مصطفيٰ خان و گونډواني ته لاړ. باز بهادر گونډواني ته روان شـهٔ. او د هـغه ځائے د ميرمنې درگاوتي رانی پناه ئې واخسته. (۳) سپاه او پياده د رانی دره د غرهٔ (۴) چـې سخت ځائے وهٔ وتړله جنگ ئې برپا کړ. باز بهادر شکست بيامونده. ښهٔ ځوانان ورځخه مړهٔ شول. په بدحال او په پريشانی او اکثر سپاه مجروح په زر محنتونو له هغو غرونو ووت. ځـو ورځـې ئې په سارنگپور کښې اقامت وکړ. په لږ مدت کښې ئې بيا سرانجام وکړ پـه عيش و عشرت ئې عمر تيروهٔ. تر هسې حده چې په درست ملک کښې د مالوې بې له دهٔ حکم د بل حاکم نهٔ وهٔ. باز بهادر سرود او رقص آغاز کړ او وائي چې انهٔ سوه ارتينې سندر

غاړي او سرودګرۍ ئې پيدا کړے. په ديو واړو کبنې په روپ متي پاتري عاشق او مبتلا شۀ او يو ساعت ئې جدائي تري نۀ غوبنته او هره غاړه او سندره چې به جوړه شوه په نامه به ئې د روپ متي پاتري امتياز بياموند. شيخ مصلح الدين سعدي فرمائي بيت:

نه مرديست دشمن در اسباب جنگ　　　تو مدهوش ساقی و آواز چنگ

او فرض له کاره د سپاه او له بندوبسته د ملک ډير غافل شۀ. هر چې د کار خوانان وو واړه تري جدا شول او رعيت هم لاس د تمرد او سرکشي دراز کړ. هرګاه چې دا حقيقت و اکبر بادشاه ته ورسيد په سن د انصو اتۀ شپيتۀ ادهم خان کوکه (۵) ئې په تسخير د مالوې له دوه ويشتو امراګانو سره په سر د باز بهادر تعين کړ. هرګاه چې په دري کروهه و سارنګپور ته لښکر د مغل ورسيد له بې خبرى په عيش او په نشاط مشغول وۀ. هرګاه چې مغل په سارنګپور داخل شۀ لاچار له مجلس د پري رويانو پاڅيد جنګ ئې آغاز کړ هرګاه چې سامان او سرانجام د سپاه ورڅخه پاتو نۀ وۀ لږ څۀ جنګ ئې وکړ شکست ئې بياموند و ولايت ته د بکلانې (۶) روان شۀ. خزانې او هاتيان او محلونه په لاس د مغل کبنيوتل او باز بهادر په وخت د سورلى چې په جنګ و ادهم خان ته ورتۀ خپل اعتباريان ئې تعين کړي وو چې کۀ زۀ شکست بيامومم واړه ارتينې په يوۀ ځائے ووژنئ. او کۀ دا هومره فرصت بيا نۀ مومئ اووۀ ديرش ارتينې چې څۀ نسبت او قرابت او نزديکت لري په قتل ئې د اهل حرم سره ورسوئ. په دا ميان کبنې مغل زور وکړ بعضې ئې مړې او بعضې ئې مجروحې کړے او مؤکلان تار په تار وتښتيدل او زوپ متي زخمي و ادهم خان ته ورسيده. ادهم خان سعي په علاج د روپ متي او د نورو مجروحانو وکړه. زخمونه د روپ متي روغ شول. کافور ئې وخوړل. ځان ئې تر خپل جانانه فدا کړ. بيت:

زنے مردوار از سر جان گذشت　　　چه مردے بود کز زنے (۱) کم بود

آفرين په روپ متي　　　يو يو مرد کا دا پتي

باز بهادر يو مدت په بکلانه (۲) کبنې وۀ له هغه و ګجرات (۳) ته ولاړ. يو مدت په ملازمت د چنګيز خان وۀ چې يو له سلطانانو د ګجرات وۀ. دا صحبت هم برابر نۀ شۀ. ملازمت ئې د شير خان فولادي اختيار کړ. له دې ځايه هم روان شۀ و دکن ته لاړ يو کال ئې برهان الملک څخه چې بادشاه د دکن (۴) وۀ تير کړ. له هغه ځايه هم روان راغا ته چې په ګولکنډه کبنې وۀ ورغے (۵) پس له التماس ئې جان بخشي وغوښته په خدمت د اکبر بادشاه راغے. هومره په رکاب کبنې حاضر وۀ څو ئې رحلت و دار بقا ته وکړ. او په دارالخلافت اګره کبنې نژدې و عالم ګنج ته ئې ښخ کړ او مدت ئې د حکومت له هرج او مرج د عدلي وغيره شپږ کاله وۀ.

وائي چې په علم د سپه ګرۍ او تیر اندازۍ کښې سرآمد د خپل وخت وۀ. تر هسې حده چې
کۀ ګوئ او چوګان به ئې په لور د هوا وغورزاوۀ څو به زمکې ته راتۀ اووۀ ګزاره به ئې د غشې
پسې در پسې پرې وکړ او په زغلول د اس به ئې ژۍ د لیندې کوزه کړه او په ځائے د قمچې به ئې
اس پرې واهۀ. او په فن د سرود کښې تر هسې حده ماهر او باهر او نقشبند او سازنواز وۀ چې
باربد ئې شاګرد او زهره ئې تعلیم کرده وه. القصه اوس په حقیقت د تاج او د عماد کرلانې
راغلم. هرګاه چې تاج له درباره د عدلي له قلعې د ګوالیره د بهار و بنګالې تیښت وکړ عدلي
فوځ عظیم په دۀ پسې تعین کړ خود هم په تعاقب د دۀ روان شۀ. په نواحي کښې د قصبه څپ
(٦) جنګ عظیم شدید واقع شۀ. سپاه د عدلي ډیر وۀ تاج شکست وخوړ د بهار په لور روان
شۀ. (١٦) او هاتیان د عدلي چې په نواح کښې د هغه پرګنې وو واړه ئې واخستل او عاملان ئې
د عدلي چې په هغه لور وو وې نیول. زر ئې ډیر ډیر څنې واخستل. له هغه نه خواص پور (٧
تـﻪ تـﻪ چې ورونه د دۀ عماد او سلیمان او الیاس جاګیردار د هغه ځائے وو لاړ. په اتفاق د
هغو خیال ئې د سلطنت په سر کښې پیدا شۀ واقع طلب عالم ډیر په دۀ باندې جمع شۀ. عدلي
په اوریدل د دې خبر بیا له ګوالیره په سر د کرلانیو روان شۀ. په سیند د ګنګا عظیم جنګ
واقع شۀ. بیا کرلانیو شکست بیاموند. په لور د ګوړ او د بنګالې لاړل په ګوړ کښې سلیم
خان کاکړ او جدرام (٨) او فتح خان بیټنے حاکم وو خبر ئې د کرلانیو د راتلو واورید په کم
جمعیت ورلره مخې ته راغلل. تاج وخت غنیمت وګاڼۀ هغه دواړه ئې ووژلل غوغا عظیمه په
ګوړ کښې واقع شوه. کاکړو او بیټنیو لښکر جوړ کړ او په سر د کرلانیو راغلل. تاج فرمان د
عدلي په دروغ ظاهر کړ چې په حکم د عدلي دا کار ما کړے دے. هغه زمان غوغا کښیناسته
او اکثر امراګان د هغه ځائے ملۀ د کرلانیو شول. تاج لره د مرګه د سلیم خان هاتیان [١٦٦]
نقد او جنس ډیر په لاس راغلل. استقلال ئې پیدا کړ. پس له هغه تاج کشر ورور سلیمان په
ګوړ کښې پریښو او خود حاجي پور (١) ته راغے. په دغه وخت کښې د کاکړو درې زره
سوارۀ له تفرقې د هیمون او د عدلي جدا شوي له اهل و عیاله سره ئې ګوښه د سلامت په
خاطر راوړه. په نواحي د حاجي پور په کناره د ګنګا ئې ځائے د استوګې جوړ کړے او پرګنې
د هغه نواحي ئې په خپل تصرف راوړے وے. تاج او عماد کاکړ د دغه ځائے له استوګې منع
کړۀ چې دې ما ملک ته مۀ راځئ. کاکړو ورته ووئیل فوځ د مغل په مونږ پسې دے تاسو
ورونه چې پریږدو پناه چاته یوسو؟ پس ډیر ردوبدل تاج او عماد ووې کۀ غواړئ چې څو
ورځې دلیه اوسئ سرداران دې تاسو رائشي ملاقات دې وکا. هرګاه چې مکر او فریب د تاج
او د عماد کاکړو لیدلے وۀ چې د سلیم خان کاکړ او د جدرام او د فتح خان بیټني سره ئې څۀ

نګ تـردد او فکر د مکر کړے وۀ په ورتلل د تاج سردارانو مصلحت نۀ ليدۀ او تاج ملاحظه وکـړه چې مبـادا کـاکـړ قـابو بيامومي انتقام د سليم خان کاکړ له چا وکاړي. نور تاج له خانه ووې چې دا دوه درې زره سوارۀ هم له خوارو برابر کړي بويه. تاج او عماد له لسو زرو سورو ا. لـه تيرصو هاتيانو سره په سر د کاکړو راروان شول. دوي هم دوه کروهه له خپله ځايه ورته وړانـدې شـول. جـنـګ ئې وکړ هرګاه چې په لښکر د کرلانيو آتش بازي ډيره وه اکثر کاکړ ومړل او ډيـر زخـمـي ديـرې ته په ماتې ولاړل. او تدبير ئې جوړ کړ زړۀ ئې په مرګ کښيښ هرګاه چې زر سوارۀ استراني يو د بله په اتفاق له ملک د پنجاب خپل وطن پريښے راغلي او درې کـروهـه پـه خـنـګ تـر کاکړو په غاړه د ګنګا ئې ديره نيولې وه له شکسته د کاکړو ډير دلګيـر شول. ملکرې ئې د کاکړو وکړه او په لښکر د تاج او د عماد چې پس له فتح ئې ديره وکـاکـړو ته په درې کروهه کښې وهلې وه راغلل پس له ډير جنګ و جدل ئې کرلانې مات کـړۀ. او درې کـروهـه کـرلانې له خپله ځايه پسـتنه شول. او کاکړو او استرانيو تير صو کسه کـرلانـي مـړۀ کـړل او تير صو هاتيان ئې ترې راونيول. هاتيان ئې و عدلي ته راستول. په دغه وخـت عدلي په چنار کښې وۀ او محمد خان سره باعث په جنګ وۀ. پرګنې چې په تصرف د کـرلانـيـو وے کـاکـړو راونـيـوے. الـغـرض هرګاه چې بخت د پښتون وجارووت او بده ورځ ورپيښـه شوه. يو د بله ئې نفاق او بد نيتي آغازه کړه او جنګ و جدل ئې برپا کړ. پس له هغه سـلـيـمـان کـرلانـي په ملک د ګوړ استقلال او قوت پيدا کړ او طغ ئې د سرداری بلند کړ او خپـل خـان ئـې پـه خـطـاب د حـضـرت اعلي مخاطب او په روش ئې د بادشاهانو له خلق سره سـلـوک آغـاز کـړ او هـمـت ئـې پـه وژلـل او پـه وکـښـل او په ورکول د کافرانو د اوړيسې وګـمـارۀ. او هيڅ کله قدم د اسلام و اوړيسې ته ورغلے نۀ وۀ او په څلور طرفه تر ښهر بتخانې او غـرقـې اوبـۀ وے. سـلـيـمـان په تيرصو هاتيانو معتبر پښتانۀ سوارۀ کړ تر اوبو پورې ووت او بتخـانـې ئې خرابې کړے. او په دغو بتخانو کښې يو بت د سرو زرو وۀ چې په وزن ديرش منه وۀ او دواړه سترګـې ئـې لـه لعل رماني وے او دوه سوه بتان نور چاپير تر هغه بت واړه د سرو زرو په صورت مختلف سره په څوکيو کافرانو کښينولي وو. واړه په لاس د غازيانو کښيوتل. [٦٧١] او ارتيـنـي د هغه ښهر په رنګارنګ زيور پسوللي وروستو تر بتخانې د جګناتهـ ناستې وے او نـوم د هـغه لوے بت جګناتهـ وۀ. هغو ارتينو يو د بله وې چې څوک دا قدرت لري چې عابـدانـو د جـګـناتهـ بت ته ازار او ضرر ورسوي. هغه زمان چې لښکر د اسلام بتخانې ورانې کړے او ارتيـنـي ئې بندي کړے تعجب ئې کاوۀ او له جمله تعجباتو يو دا دے چې هغه څوانان چې د سليمان سره وو وئيل ئې چې له لښکره د اسلام کم څوک وۀ چې دوه بتان د سرو زرو

نـې په لاس رانغلل او هيڅ يو بت په وزن تر منه کم نهٔ وهٔ. او عجب تر دي چې په يوهٔ کال
کښـې هغو چا چې لوټ کړے وهٔ خوار او پريشان شول او ومړل. (١) الغرض سـليمان کرلانړ
هـغـه کفرستان فتح کړ. بيا و ګوړ ته ولاړ. څو ورځې ئې په عيش او په عشرت تيرې کړے ا
اکثـر اوقـات پـه خير او طاعت او عبادت او په نمانځهٔ او تهجد او په ګزارل د اشراق مشغو
وهٔ. او هيـڅ دقيـقـه ئې د شريعت محمديه ﷺ پرې نښوه. او د دهٔ په حکومت کښې اژدها ا
دريـابـه راوتـه هـر چـې به ئې وليدل وبه ئې نغړدل. سليمان له اوريدو د هغه مار د خونخوارۍ
متـعـجـب شـهٔ. په قصد ئې د اژدها د مرګ خود توجه وفرمائيله. زر منه دارو ئې جمع کړهٔ
لاره کښـې ئې د مار واچول او اور ئې ورته کړ. هر څو مار چې له دريابه راوتلے وهٔ وسهٔ. وا
اعـلـم چې پـه دريـاب کښې څو پاتې وهٔ او هر چې ورځنې وسو له څرمنې ئې تيرصو ډالونه
توپ ساز شول. (٢) او غير مکرر واقعې په زمانه د سليمان کرلاني په وقوع راغلے. يو تسخ
او استيـصـال د جـګـناتهـ، دويم واقعه د اژدها چې مذکور شوه. (٣) فـي الـجمله شپاړس کا
سـليـمان په ملک د ګوړ او د بنګالې حکومت وکړ. هرګاه چې پيمانه ئې د عمر ډکه شوه
ســن د انـصو شپږ اويا ئې و دار البقا ته کوچ وفرمايهٔ. پس له هغهٔ بازيد (٣) خوړے د سليمان
خـائـے د پـلار پـه خپـلـه نامه خطبه ولوسته او په مسند د حکومت کښيناست. پس له اوولـ
ورځو په سعي د هنسو (٥) خوړے د عـماد چې تربور د دهٔ وهٔ له لاسه د قتلو اوغيره لوحانيو
شـهٔ. پـس لـه هـغـهٔ داؤد چـې کشر خوړے د سليمان وهٔ جمعيت پيدا کړ په سر د هنسو راغـ
هـنسـو نـې مړ کړ او په تخت د سلطنت کښيناست او خطبه ئې په خپله نامه ولوسته. او لود
خـان چـې لـوئے امير د سليمان وهٔ له دهٔ مخالف وهٔ مړ ئې کړ نور متوجه په بهار شهٔ. او په خپ
مـلـک ئـې قـناعت ونهٔ کړ. اکبر بادشاه راجا ټوډرمل او منعم خان خان خانان (٦) په سر د
تـعـيـن کـړهٔ. هـرګـاه چې فوځونه د اکبر بادشاه نژدې و پټنې ته ورسيدل نهٔ توانيدل چې داؤ
سـره مقابل شوے لاچار ئې و اکبر ته عرضداشت وکيښ چې بې له توجه د بادشاه مهم د داؤ
نهٔ شي. اکبر بادشاه په استدعا د امراګانو د عرضداشت قصد د عزيمت په هغه طرف وفرماي
داؤد لـه غـروره د خوانى او بل تجربه کار نهٔ وهٔ په کوټ کښې د پټنې متحصن شهٔ. او فوځو
د مـغـل تـرې چـاپيـر شـول. کهٔ هر څو دانايانو ورته نصيحت وکړ چې له نهنګه مخالفت او
اژدهـا سره مخاصمت (٧) خپـل خـان پخپله وژلل دي. بهتر دا دي چې قول او اقرار وغوار
شـرف د مـلازمـت د اکبـر بادشاه حاصل کړه. هرګاه چې وکيلان د داؤد وپوهيدل چې داؤ
مصحلت غلط کړ، ډير شراب ئې ورکړهٔ. هرګاه چې بيهوش شهٔ په هغه دروازه چې آهو خا
نومي او په غاړه د ګنګا د سيند واقع ده و بنګالې ته ئې بوتهٔ. [١٦٨] او قلعه د پټنې په تصرا

دمغلو راغله. اکبر بادشاه فوځونه په داؤد پسې تعین کړل. داؤد ئې په لاس رانغې. وجاروتل و حضور ته راغلل. هرګاه چې داؤد له کیفه د شرابو په هوش شۀ کار ئې بل رنګ ولید افسوس او ندامت ئې وکړ، سود ئې نۀ وۀ. داؤد کړهی ته لاړ شۀ. يو مدت هورته وۀ. پس له هغه اکبر بادشاه حسن قلي خان چې په خطاب د خان جهان مخاطب وۀ په تسخير ئې د بنګالې او اولکې تعين کړ. په نواحي د کړهی جنګ واقع شۀ. قتلو خان لوحاني چې وزير او سپه سالار د داؤد وۀ له خان جهانه سره قول اقرار کړے وۀ چې ورځ د جنګ به زۀ په ځنګ شم چې شکست د داؤد لښکر بیامومي په دا شرط چې ځو پرګنې و ماته پریږدے. خان جهان دا مطلب قبول کړ. هرګاه چې طرفين جنګ ونښت په عين جنګ کښې قتلو له خپله جمعيته مخ په تيښت ونيو. سپاه د داؤد له فريبه د قتلو واقف شۀ لاچار ئې تيښته آغازه کړه. ډير لښکر د داؤد ومړ داؤد هم په يو طرف روان شۀ. اما په غشي زخمي وۀ ځو اس د داؤد په ختو په لاړ کښې ښخ شۀ. داؤد هم هورته په قتل ورسيد. وائي چې داؤد ډير ښائسته وۀ او سين ږيريو به وے چې په تمام هندوستان کښې په دا ملاحت او صباحت خوان پيدا شوے نۀ وۀ. ګويا ثاني يوسف وۀ. الغرض دولت او حکومت له خاندانه د کرلانيو په سبب د قتلو لوحاني منتقل شۀ. او خان جهان په موجب د وعدې پرګنه د اوړيسې او د بنګالې وغيره و قتو ته تسليم کړه. او قتلو لس کاله د مغلو سره په طريقه د ګرګ آشتي وکړه. او په نواحي د ګهوره ګهاټ (۱) وسيدۀ. في الجمله سامان ئې جوړ کړ او په فاسد خيال ئې طغ د خودکامی بلند کړ پس له هغه ئې ځلور کاله نور حکومت وکړ او ډير جنګونه ئې د مغلو سره وکړۀ. قيم خان کنک ئې هم مړ کړ او راجا مان سنګهه سره ئې چې صاحب مدار او اختيار د بنګالې د ملک وۀ ډير جنګونه وکړۀ اخر مړ شۀ. نور جلب د دولت په لاس د عيسې خان لوحاني ميان خيل چې وزير د قتلو وۀ راغے پينځۀ کاله ئې نوبت د سرداری وغږاوۀ. او له فوځونو ئې د کبر بادشاه جنګ او جدل کاوۀ ځو ئې امانت د حيات وسپارۀ. پس له هغۀ خواجه سليمان ځوے د عيسې خان په مسند د حکومت کښيناست. پس له ځو ورځو دے هم تر دنيا تير شۀ. پس له هغۀ خواجه عثمان کشر ورور د دۀ استقلال ونيو. شل کاله ئې له لښکره د اکبر بادشاه کله صلح کله جنګ وکړ او په اول د سلطنت ئې د جهانګير بادشاه شربت د شهادت وځښل. پس له هغۀ په سن د زر يوويشت هرګز مطلقاً حکومت په ښتنو کښې پاتو نۀ شۀ او په سبب د مخالفت ئې دا عظيم دولت بائلۀ او جهانګير بادشاه تقصيرونه د دې قوم معاف کړۀ او پ قيد ئې د احسان بند کړ. او هومره مهرباني ئې په حال د دوي مبذوله کړه چې زنګ ئې د کښو له خپلو سينو پريولے کړ. او له دله ئې خدمت او جان سپاري آغازه کړه. او په يمن د

خپلي نيک نيتی عظيم امراګان او مقرب د بادشاه شول او ښهٔ ښهٔ خدمتونه او لوے لوے کارونه له دوي صادر شول. (۳) او لـه وارو امراګانو په منصب او په اعتبار سرآمد [۱۶۹] او زبردست او پـه رنګارنګ عـنـايـت او التفـات د بـادشاه سرفراز او ممتاز شول. خصوصاً خانجهان لودي چې سرآمد د هغه وخت د امرايانو وهٔ ډير اعتبار ئې رسولے وهٔ په خطاب د فرزند خان له جهانګير بادشاه سرفراز وهٔ. او امرايان عمده په خپل وار به ذکر د دوي راشي. پـه آوان د جهانګير بادشاه اصل نوم ئې پير خان وهٔ په تربيت د بادشاه په منصب د هفت هزاري او هفت هزار سوار او په خطاب د خانجهانی سرفراز شهٔ. (۱) قلعه د قندهار چې پس له التجا راوړلو د مظفر حسين مرزا اکبر بادشاه ته وسپارله. (۲) د جهانګير تر وخته په تصرف کښې د دوي وه. هرګاه چې شاه عباس (۳) پـه تخت د ايران کښيناست هميشه ئې خواهش د قندهار د اخستو په خاطر وهٔ. په وخت د جهانګير بادشاه زينل بيګ (۴) چې سپه سالار د شاه عباس وهٔ لـه خان عالم سره پـه طريق د رسالت ئې جهانګير بادشاه ته راستوهٔ او قلعه ئې د قندهار وغوښته. د جهانګير چې نيت د ورکولو نهٔ وهٔ خان جهان لودي لره ئې چې په کثرت د ډير قوم قبيلې او سامان او دولت او مرتبې مرد يګانه د خپل وخت وهٔ قلعه د قندهار ئې تجويز کره. خان جهان صوبه داري د ملتان وغوښتـه او نګهبانی د قندهار د قلعې دپاره ئې د عبدالعزيز خان التماس وکړ. په تعهد چې کهٔ شاه عباس په قندهار راشي زهٔ به په تمام سرعت پـه سرکار ور ورسم. اما چې شاه عباس په قندهار راغے محاصره ئې کره څو مدت عبدالعزيز خان جنګ جدل وکړ اما چې له آذوقې او له اسبابه د قلعه داری عاجز شهٔ او کومک ور ونهٔ رسيد. امن ئې وغوښت. قلعه د قندهار ئې و شاه عباس ته وروسپارله. قندهار شاه عباس ونيو عبدالعزيز خان ئې هندوستان ته رخصت کړ. (۵) دويم دا چې په ايام شهزادګی کښې چې شاهجهان لـه جهانګير بادشاه نه څهٔ آزرده شوے فراري شوے وهٔ په جنير (۶) کښې وهٔ خانجهان په دغه آوان د برار (۷) صوبه دار وهٔ. په واسطه د جهانګير د خاطر داشت موافقت ئې ورسره ونکړ. هرګاه چې جهانګير فوت شهٔ. دا خبر شاهجهان ته ورسيد او له جنيره دارالخلافت اکبر آباد (۸) تـه متوجه شهٔ. خان جهان ته ئې التجا د مدد وکړه او جان نثار خان (۹) چې لـه بندګانو تربيت يافته ؤ وهٔ له فرمانه سره ورستاوهٔ اما رفاقت ملګري ئې ورسره ونهٔ کره. (۱۰) شاهجهان آزرده شهٔ د خانجهان هم په دا سبب وسواس په خاطر کښې وهٔ. ملک د خانديس (۱۱) د برار (۱۲) بالاګهاټ (۱۳) ئې واړه چې خبر د جهانګير د وفات راغے دهٔ نظام الملک (۱۴) ته وسپارهٔ چې د دولت آباد (۱۵) څښتن وهٔ تاني ئې خپلې له بالاګهاټه پاڅولے. ګمان د خلق وشهٔ چې څو لکه هون (۱۶) ئې واخستل بادشاهي ملک ئې ورتـه

وسپارۀ. خانجهان دا عذر کاوۀ چې د جهانګیر په ملک غلیم زړۀ ور شۀ. دې ما زور ونۀ رسیدځکه مې تانې پاځولې (۱۷) اما معلومیږي چې د شاه جهان نه په وسواس وۀ چې سلوک مې ورسره ونۀ کړ دے به بادشاه شي نظام الملک ته دۀ اسره کوله د خاندیس دے خود سوبه دار وۀ. د جهانګیر د مرګ په خبر ئې سکندر خان دوتانې په خاندیس کښې پریښې نور راغے په مانډو کښې کښیناست. صوبه ئې د مالوې هم ونیوه چې شاهجهان په تخت کښیناست بنا بر مصلحت وخت [۱۷۰] صوبه داري د دغه صوبه جات ئې واړه د دۀ په دستور سابق بحال کړله فرمان ئې د دلاسه استماله ورستوۀ. حسب الامر الاعلیٰ له مانډو نه برهانپور ته راغے ځو ورځې ئې په اهتمام د هغې صوبې تیرې کړے. هرګاه چې صوبه داري د هغه‌ځائے د دۀ له تغیره په نام د محبت خان خان خانان مقرره شوه صاحب صوبګي د مالوې د دۀ تسویض شوه. ځو مدت ئې په مالوه کښې هم روزګار تیر کړۀ. تر هغه پورې چې لښکر بادشاهي چې له دۀ سره کومکي وۀ په مهم د جهجهار سنګهه (۱) مامور شۀ. پس له تقدیم د هغې حدمت په ملازمت د بادشاه راغے بادشاه خپله آزردګي په مخ د دۀ رانۀ وړه په هرګونه مهربنې او نوازش ئې سرفراز کړ اما چې باطن د بادشاه دۀ ته معلوم وۀ آرام خاطر ئې نۀ کیدۀ. ځینکري ځوے د مخلص خان از روئے خوردسالي یا از روئے اخلاص د خان جهان زویو سره وون په دا دوه درې ګاه کښې چې تاسو ته له بادشاهه بې عزتي رسي. (۲) خپل فکر پخوا ولې نۀ کړئ. (۱۲) خوږو زړو ته نرے عبارت بس دے. دوي دا حقیقت د پدر په سمع ورساوۀ وسواس ئې زیات شۀ کور کښیناست دربار ته نۀ ورتۀ. بادشاه اسلام خان په تفحص د دۀ د نۀ ورتلو ورستوۀ او عذر ئې ورته دا وکړ چې تر خپله تقصیره پورې محجوب یم. بل وسواس مې په خاطر کښې د ناموس دے. نور په بل نیت محرومي له ملازمته د ولي نعمت په خاطر نۀ لرم. امیدوار یم چې قلم د عفو په جرائم دې ما وځکاوۀ شي. او امان نامه په دستخط خاص راته مرحمت شي. او په اختیار د خدمت او د عزلت مختار شم. التماس د دۀ په وسیله د یمین الدوله صف خان (۳) په عرض د بادشاه ورسید. بادشاه التماس د دۀ قبول کړ. زنهار نامه ئې په موجب د دۀ د استدعا ور کړه د یمین الدوله سره و دربار ته راغے ځو ګاهه په دستور معهود مد وقت د دربار ئې کاوۀ. اما تقدیر غالب دے نۀ نوريږي. (۳) وسواس چې ئې په خاطر وۀ کل نۀ‌رطرف کیدۀ اول د سازوسامان و توشه په شپه د یک شنبې د مهر (۵) و قرارداد ئې د رار وکړ. ځوک له ملازمانو د یمین الدوله د حاله ئې واقف شول. خان والا شان ئې په دا کار خبردار کړ او په حسب اتفاق چې هغه شپه نوبت د ځوکۍ د یمین الدوله وۀ له خپله عالمه سره په‌ځوکۍ خاله کښې په دستور معهود حاضر وۀ الله وردي خان هم د خان سره شریک د

څوکی وهٔ هم هغه وخت نې بادشاه ته واستوهٔ. چې احوال په عرض ورسوي او حکم حاصل کا چې له اهل څوکی سره ورشي او د خانجهان کور محاصره کا مشار اليه ورغی حقيقت ئې په عرض اعلي ورساوهٔ. بادشاه حکم ور نهٔ کړ وې فرمائيل چې څو له دهٔ نه هسې کار ناشائسته په وقوع راغلے نهٔ دے عهد ماتول مناسب نهٔ دي. پس په هغه شپه له اکبر آباده ووت. شاهجهان چې خبر شهٔ بادشاهي افواج ئې په سرداری د نامدارو اميرانو لکه ابوالحسن او سيد مظفر خان او نصير خان او راجه جے سنگهه (٦) او خان زمان او الله وردي خان او فدائي خان او معتمد خان او سردار خان او راجه بهرات بنديله [ا ے ا] او راجه بيتهلداس (ا او خدمت پرست خان مير آتش او مادهو سنگهه او انيرائے (٢) او مرحمت خان د احديانو بخشي او سجن او پرتهي راج راتهور او احداد خان مهمند او بهيم راتهور (٣) او بنادي خان (٣) ازبک حکم کړل او نور امرايان لوئے منصبداران ئې د دهٔ په تعاقب نامزد کړل.(٥) په نواحي د دهولپور پسې ورسيدل. طرفين سره آماده د جنگ شول. جنگ ئې عظيم سرا وکړ لوي لوي اميران بادشاهي پکښې ومړل. لکه خدمت پرست خان، مير آتش او محمد شفيع د سيد مظفر خان نمسے (٦) له نورو نونسو کسو (٧) او دوه درې ورونه (٨) د راجا بيتهلداس (٩) او قريب تر صلو کسو نوکران بنهٔ مغل او راجپوتان ومړل او ډير زخمي شول ازان جمله راجا بيتهلداس او پرتهي راتهور او خواص خان پنړي او مرحمت خان د احديانو بخشي او په عين جنگ کښې خانجهان چې په غشي زخمي شوے وهٔ له پرتهي راج سرا روبرو شهٔ طرفين يو تر بله د وهلو پريستلو وکړ دوي يو تر بله د لاس په نيزه زخمي سره جدا شول. او دوه زامن د خانجهان يو محمد حسين او بل عظمت خان او روشن خان زوم د سردار خان او دوه زامن د احداد خان يو محمد خان بل محمود خان او نور شپيتهٔ کسه عمده د خان جهان په دا جنگ کښې ومړل. (١٩) نور خانجهان له رود باده د چنبل پورې شهٔ. دا لښکر د سيد مظفر خان وغيره څوک مړهٔ څوک زخمي وو او هغه ځائے کښې په دفن د مقتولانو او خصمانه د زخميانو پاتو شول. فدائي خان او معتمد خان او انيرائے او راجه جے سنگهه (١٠ او خان زمان هم وررسيدل. او په اتفاق سره په قرارداد و تجسس د خان جهان روان شول چې په کناره د رودباد چنبل ورسيدل. خواجه ابوالحسن هم ورسره مل وهٔ. پورې وتل له روده بې کشتي دشوار وو د رود په کناره ديره شول. نور په بادشاهي لار د گواليار او انترې دتيه ته او لهٔ هغه ځايه چنديري او بهوداسه او بيا سلواني ته چې د گونډواني پرگنه ده راغلل (١١) او خانجهان ملک ته د بنديله لاړ. (١٢) دوه درې مياشتې ئې په هغه زمين کښې تيرې کړے. بيا له هغه په برار راغے د نظام الملک سره پيوست شهٔ. په دريم کال د جلوس

شاهجهان سنه هجري زر نهٔ دیرش وه. (۱۳) چې بادشاه په لور د دکن له اګرې روان شهٔ. خاندیس یعنې برهانپور ته ورغے او بهادر خان (۱۴) او نور فوځونه ئې په سر د خانجهان چې د اګرې نه فراري شوے وهٔ له نظام الملک ئې پیوستون کړے وهٔ چې لکه پخوا مذکور شهٔ تعین کړهٔ. بادشاهي فوځونو له خان جهانه تاب د جنګ رانهٔ وړ یوهٔ غرهٔ ته ولاړل. (۱۵) نور فوځونه بادشاهي د غرهٔ د لاندې وو. بهادر خان (۱۶) ورپسې په غرهٔ وخوت. د غرهٔ تر سره ډیرعالم ځنې پاتو شهٔ مړ نهٔ شهٔ. بهادر خان د خانجهان عزیز وهٔ (۱۷) هغه مړ شهٔ. (۱۸) کوتل اسپنه هاتیان د مغل د سواری دا هر څهٔ پاتو شول. عالم ئې په اسونو سر ورکړ له هغې تهلکې ئې خان خلاص کړ. په دا جنګ کښې د بهادر خان مجرا حاصله شوه. (۱۹) شاهجهان ځنې راضي شهٔ. (۲۰) [۱۷۲] په شاهجهان نامه کښې وائي هرګاه چې خانجهان له بادشاه آزرده شهٔ کمال خان خوے د شیخ رکن الدین روهیله (۱) چې په وخت د جهانګیر په منصب د چارهزارې په خطاب د شیر خان سرفراز وهٔ په هغه اوان د ګولکنډې په صوبه کښې وهٔ. خانجهان ورته وکیښ چې زهٔ د بادشاه نه آزرده شوم تهٔ هم د پښتونخوا عالم جمع کړه. او په اتفاق غلبه په بادشاهي عالم وکړه. (۲) په دغه وخت احداد د لوا په غرهٔ کښېد ظفر خان له لاسه مړ وهٔ لکه پخوا مذکور شوې دې الائي د احداد ارتینه او عبدالقادر د احداد او خوے او کریم داد کور خونے د جلال الدین او محمد زمان د پیرداد خوے پس د احداد د مرګ له خرترې تیراه ته راغلي وو. په هغه زمانه کښې چې په حد د تیراه دهٔ ځائے نیولے وهٔ. ظفر خان لښکر وکړ. په تیراه پسې وخوت. (۳) چې پس له وفاته د جهانګیر بادشاه چې شاهجهان په تخت د سلطنت کښیناست وسواس ئې د خانجهان له لوریه پیدا شهٔ چې دے په عهد د جهانګیر په لوړے مراتب او دولت رسیدلے وهٔ. په دا سبب چې دے تربیت کرده د جهانګیر دے له هغه سره ئې موافقت لرهٔ او په دا دولت چې دے دے ګوره له ما سره موافقت وکا یا نه کاموافقت ئې ونهٔ شي ډیر زور لرې قباحت دے په دا سبب په دهٔ بدمظنه شهٔ. ورخ په ورخ ئې د دهٔ جاګیر او مال په بهانه اخست او کموهٔ ئې. خانجهان صریح په دا وپوهید چې له ما سره بدکاندې مصلحت ئې وکړ چې دکن لره به درومم. پښتانهٔ چې ورسره وو هغو ورته ووې چې مونږ به فساد وکړو. په دا لښکر کښې امید لرو چې دا لښکر به د بادشاه له مونږ امان بیا نهٔ مومي. اما دے چې پخپل ذات ډیر دیندار او نمک حلال وهٔ دا اراده ئې ونهٔ کړه. عالم ئې منع کړ اما لښکره له بادشاه چې په اګره کښې وهٔ په لور د دکن ووت. بادشاه په مجرد د اوریدو د دې خبر ډیر مضطرب شهٔ اووهٔ څوکی ئې له نورتعیناتو څو منزله سره د رضا بهادر په سرداری پرې تعین کړے. چې بادشاهي فوځ له بنهره ورووت څو منزله سره لاړل په دهولپور باندې

چې ورغـلل مقابله شول جنګ عظیم وشهٔ تر هسې حده چې په تورو په چړو بادشاهي لښکر نې مات کړ ډیر عالم په قتل ورسید. رضا بهادر د عظمت خان له لاسه چې څوړے د خانجهان وهٔ پرې ووت مړ ئې کړ (۴) نـورو پښتـنـو ورته ووې چې څه اوس معطلي مهٔ کوه چې مخ په وړانـدې درومـو دهٔ ورتـه ووې چې یـارانـو زهٔ خپل خان ساتم د بادشاه سره مطلب د بدی نهٔ لـرم. نـور مـخ پـه وړانـدې د دکـن پـه لـور روان شهٔ. په مخه دریا خان داؤدزے چې امرا د هغه وخـت وهٔ. او بل بهلول میانے (۵) چـې امـرا وهٔ دواړه راغلل بادشاه وته راتلل. خانجهان ورته ووئیـل چـې شـرم د پښتونوالې دے د بادشاه لښکر راپسې رادرومي تاسې مدد راسره وکانئ. دوې دواړه ورسـره پـه سبـب د نـنګ الفغاني ملهٔ شول. تر نوکری تر منصب تیر شول. چې په څانده (۲) په دیو ګړهـ (۷) ورغلل امرایانو سره مصلحت وکړ، دریا خان او بهلول ورته ووئیل چـې بـویه اوس سرانجام او تلاش او تردد وکړو دهٔ ورته ووئیل چې ما خپل خان له شاهجهان کـنـاره کـاوهٔ. او نـوکـري مې پرېښوه. مطلب دې ما بدي له بادشاه سره نهٔ ده. زهٔ د دهٔ د پلار نـمـک خـور یـم. او پـلار ئـې په فرزند یاد کړے وم. د دهٔ نیت مې بد ولید څکه زهٔ ترې کناره شـوم. نـورو امـرایـانـو ورتـه ووئیـل چـې مونږ هم دې تا [۱۷۳] په سبب نوکري د شاهجهان بادشاه پرېښوه اوس څه بارې دکن ته هورې به نوکري وکړو. دهٔ ورته ووئیل چې د بل بادشاه نـوکري هم اختیار نهٔ لرم. ما اوس په دا ګوښه کښې پرېږدئ نو اکثر امرایان له دهٔ ناامید شول پـه خپـل روزګـار مستـغـرق شـول. بهـلـول بیـجاپور ته لاړ شهٔ عمده نوکري ئې وشوه. تمام صـاحـب مدار صاحب اختیار د هغه بادشاه شهٔ. تراوسه پورې چې اورنګ زیب بادشاه ورغے بیـجـاپـور ئې فتح کړ خدمتونه او ترددونه ئې د دغو پښتنو چې په بیجاپور کښې وو مشاهده او مـعائنه ئې کړهٔ. پس له هغه چې سکندر عادل شاه (۱) اورنګ زیب سره نوکر شهٔ بیـجاپور ئـې ورکړ. دوې هم نوکران شول. د بهلول خوې نمسي پشت په پشت چې به راتلهٔ بهلول به بـالهٔ شول. خطاب له بادشاه هم دا وهٔ. بهلول ته ئې هفت هزاري منصب ورکړ. میان خان چې د بهلول له قبیلې وهٔ پنج هزاري شهٔ. نوره قبیله ئې هم په دا موافق سرفراز کړه. حال په منصب د خـضـر خـان پـنـړې خـوې د داؤد خـان او رنمست خان دائے په پنج هزاري منصب سرفراز کړهٔ. پـس د عالمګیر له مرګه چې بهادر شاه د اعظم شاه بادشاهزاده له مرګه فارغ شهٔ و دکن ته راغے. داؤد خان د عالمګیر له لوریه د چنجي (۲) صوبه دار وهٔ بهادر شاه لره ورغے. د کام بـخـش پـه جـنـګ کـښـې ئـې هـراول کـړ چـې کـام بخش زخمي شو ژوندے ئې بهادر شاه ته راوسـت. هـفت هزاري شهٔ. د بیجاپور صوبه داري پرې مقرر شوه. بل حسن خان (۳) وهٔ چې غوریه خیل مهمند د پېښور وهٔ پنج هزاري شهٔ. چار هزاري عبدالنبي خان د حسن خان ورور

شـۀ. اوس بیا راغلو د خانجهان قصې ته. خانجهان او دریا خان داؤدزي دواړه د څانده د دیو ګړهـ د راجا په ملک کښې وو دواړه له نااميدی په خپل روزګار پسې تفرقه شول. هيڅوک و څـخه پـاتـو نـۀ شـول. د څانده د دیو ګړهـ راجګانو څنې ملاحظه درله چې دا دواړه توره د امرائي لري او له بادشاه باغي دي هر آئینه به وړاندې وروستو د دوي په سبب نقصان د بادشاه له لـوريـه يـا د دوي (لـه لـوريـه بـه راورسـي) په دا ملک کښې اقامت د دوي ښۀ نۀ دے. (۴) بادشـاه تـه ئـې وکـښـل چې فـوځ دې راشي دا سرې به مونږ نیولي ورکړو. بادشاهي فوځونه وغـلـۀ تـرې چـاپـيـر شول. دوي وپوهيدل چې خلاصے مو نشته. دریا خان خپل خوي ته چې بهادر خان وۀ او دے فوځ بادشاهي سره تعينات وۀ او نوکر د بادشاه وۀ خواب ئې ورته واستوۀ چې راشه مونږ خو اوس نۀ پاتو کيږو دا دې ما سر تۀ بادشاه ته وروړه چې مجرا دې بادشاه ته وشـي. په موجب د پلار د وئيل بهادر خان ورغے د پلار سر ئې راوړ. خانجهان هم مړ شۀ. (۵) وائـي چې دریـا خـان له پيښوره يو غوځکے په بساط کښېدرلۀ خرڅ ئې کړ د لارې توښه ئې شۀ. يوه ليـنـده دوه غشـي په لاس هندوستان لره ولاړ. په هغه اوان په هندوستان کښې تردد جـنـګـونـه ډيـر وو په خان ډير بهادر وۀ. اسم رسم ئې وشۀ د بادشاه نوکر شۀ. هزار پانصدي منصب ئې وشۀ. (۶) چې بهادر خان ئې سر راوړ بادشاه د پلار منصب دۀ ته عنايت کړ (۷) د دریا خان درې خويه وو (۸). [۱۷۴] بهـادر خان جلال خان چې په خطاب د دلير خان سرفراز شـۀ. دريـم يـوسف خـان واړه پهمنصب مناسب سرفراز شول. بهادر خان په دکن تعينات شۀ. ښـۀ ښـۀ خـدمتونه ترددونه ترې وشول. يوه ورځ ښکار ته وتلے وۀ د بيجاپور فوځ پرې راغے (۱) د دۀ جـمـعـيـت ورسره نۀ وۀ. ډير جنګ ئې وکړ زخمي شۀ. هسې شان تردد ئې وکړ چې ښمن پرې آفرين خوان شول. سره ئې ووئيل چې دا څوان د کشتن نۀ دے. اخر الامر ژوندے ئې واخسـت د بيـجـاپـور بـادشـاه تـه ئـې يووړ هغه وساتۀ معالجه ئې وکړه. روغ شۀ. دا خبر ساهـجـهـان بـادشاه ته ورسيد. غيرت ئې ډير وکړ. شاهجهان ډير قدردان بادشاه وۀ لکه خان ملیین مکان د دۀ په مدح کښې فرمائيلي دي. بيت:

څۀ ښۀ بادشاه وے شاهجهانه، هم غور رس هم قدردانه
چې تۀ په ګور کښې شوې پنهانه، يوه بلا شوه پيدا له تانه

، بهادر خان په انتقام بادشاه روان شۀ دکن ته. چې برهانپور لره راغے هغه وخت خان خانان په عرض ورسول چې قلعه د بيجاپور ډير محکم خائے دے کۀ مونږ شکست بیامومو قباحت دے و کـۀ دے شـکـسـت وخـوري قـلعه پناه کا، رانيول د قلعې دشوار کۀ مطلب خلاصے د بهادر خـان پـه خـاطـر مـبـارک رسـيـدلـے وي بـنـده ضامن را به ئې خلاص کړم او کۀ نور مطلب وي

اختیار د بادشاه. حکم ورته وشهٔ چې بهادر خان راخلاص کړه. نور بیجاپور معاف. خان خانان وکنبل د بیجاپور بادشاه ته چې دا فتنه په پریښول د بهادر خان برطرف کیږي. اختیار دې تا. مصلحت ئې وکړ. بهادر خان ئې رخصت کړ د شاهجهان په لور. هغه امرا د بیجاپور چې بهادر خان ئې نیولے وهٔ خپل بادشاه ته ئې عرض وکړ چې کهٔ بهادر خان تهٔ د شاهجهان بادشاه له ویرې رخصتوے زهٔ نور دې تا نوکري نهٔ کوم. هرچند بادشاه د هغهٔ دلجوئي وکړه اما نوکري ئې پرېښوه. هرگاه چې شاهجهان بادشاه خبر شهٔ چې بهادر خان ئې رارخصت کړ حکم ئې وکړ چې تر بیجاپوره او دې ما تر لښکر پورې هر فوځدار تانه دار، صوبه دار چې د بادشاهي دے په هر منزل چې بهادر خان راځي نهٔ اسه او په موافق د خپل استعداد نقد او جنس دې د بهادر تر نظره تیروي. څو دې تر حضوره د بادشاه راتهٔ هومره اسونه او نقد او جنس ورته موجود شول چې احتیاج ئې پاتو نهٔ شهٔ. هرگاه چې حضور ته راغے حکم په امرایانو باندې وشهٔ چې تر هفت هزاري او تر پانصدي پورې چې د حضور امرایان یاستئ موافق د خپل منصب دا هومره نقد دا هومره جنس او اس بهادر خان ته ورکوئ. او بادشاه له خپله لوریه زر اسه او دولس لکه روپې او دولس هاتیان هزار و پانصدي اصل او هزار و پانصدي اضافه ئې ورته عنایت کړل. (۳) نور ئې حکم وکړ چې څهٔ آرزو لرے غواړه. التماس ئې وکړ چې حضرت دې ما آرزو پوره کړه. اما یوه آرزو لرم گاهے چې حضرت دې ما پلار دریا خان په نمک حرام یاد کا دې ما دلگیري وشي. امیدوار یم چې معاف شي. بادشاه از راه مهربانی معاف کړ چې نور به ئې نوم دا رنگ نهٔ اخلم. پس له هغه بنهٔ بنهٔ [۱۷۵] نمائے خدمتونه د بهادر خان له لاسو نه وشول. بادشاه پنج هزاري منصب ورکړ ازان جمله یو خدمت د دهٔ دا وهٔ چې جگت سنگهه راجا چې د نورپور او د تارا گړهه زمیندار وهٔ له سعید خان بهادر سره ئې عداوت وشهٔ. بادشاه په لاهور کښې وهٔ چې دے یاغي شهٔ. بادشاه ته ئې خواب راستوهٔ چې سعید خان بهادر دې ما په مهم راستوه. (۱) بادشاه سعید خان او اصالت خان دواړه په مهم تعین کړهٔ. اخر الامر هیڅ څنې ونهٔ شول. پستنه راغے. بادشاه بهادر خان ته حکم وکړ بهادر خان او اصالت خان دواړه ئې په مهم تعین کړهٔ. نقل دئے چې لښکر د بهادر خان له تارا گړهه نه په مفاصله د یو کروه په سبب د کوهستان چې ځائے د ډیرې د وهٔ میشت وهٔ. دې به له خپلې ډیرې هره ورځ سور شهٔ د مورچال په عالم به راغے. تمامه ورځ به ئې تماشه د جنگ او اهتمام د مورچو کاوهٔ. نمازدیگر نمابنام به ډیرې ته روان شهٔ. یوه ورځ یو تنگ ځائے وهٔ د دهٔ د گزرگاه چې د دهٔ د تلو لار وه محصورانو هغه لار په ډیر عالم ونیوه. دے په عادت قدیم پرې راغے. محصورانو د ټوپکو د غشیو شیبه پرې وکړه. بهادر خان په

پالکي کښې ناست وۀ. له پالکی نه ئې ترپ لل. توره ئې وکښه په خان پسې روان شۀ څوک چې د دۀ حاضر جلو وو هغو مټ پرې وکړۀ شکست ئې ورکړ څو ئې خپې وژلل. نقل دے چې هروخت به په پائ د قلعه د تارا ګړهـ ودريد، وۀ به ئې وئيل چې پښتنو دا څۀ حيلې کاڼې. کۀ حمله پرې وکانې په زمان به واخست شي. نقل دے چې په خان بهادر وۀ. چې يو ځل په هندوستان کښې په يوه ګړهي ئې يورش وکړ په خوا تر واړه دے بريوتے وۀ. هغه ګړهي فتح شوه چې خلق واړه و ګړهي له کاره فراغت شۀ بهادر خان ئې نۀ موندۀ چې ئې تفحص وکړ پـه يوه حويلي کښې جدا پنځوس شپيتۀ ګنوار ئې حصار کړي دي. تنها ورسره په جنګ دے. تر هسې حده چې ډير ئې په تيغ بې دريغ وژلي دي او دے هم ډير زخمي شوے دے او هنوز په تردد د نورو وژلو دے. دا نور عالم چې خبر شول ورغلل له هغه نورو باقيمانده ؤ نه ئې خاطر د دۀ آرام کړ. اخر جګتا د تارا ګړهـ راجا عاجز شۀ. امان ئې وغوښت په معرفت د بهادر خان رائ وست په لاهور کښې ئې ملازمت د بادشاه وکړ. ګناه ئې معاف شۀ. **مهم د تارا ګړهـ**: هرګاه چې بادشاه بهادر خان او اصالت خان په مهم د تارا ګړهـ تعين کړۀ خان عليين مکان ئې هم وبالۀ له قبيلې او له قومه اولسه سره ورغے. د هغه مهم احوال دۀ په خپل دستخط کښلي دي چې خپل تردد احوال څۀ نور واړه به وکويښ شي. د جګتا دوه قلعې وے. يوه نورپور بله تارا ګړهـ. قلعه د نورپور کوزه وه او تارا ګړهـ بلنده مرتفع وه. بهادر خان اول چې راغے نورپور ئې محاصره کړ. هغو راجپوتو د لرګيو کوټ عليحده تر نورپوره چاپير کړے وۀ. اول جے سنګهـ په نورپور يورش وکړ ډير عالم ئې په تير و تفنګ په قتل ورسوۀ. پس پائ شۀ. د بله لوريه د بهادر خان عالم يورش وکړ. ښۀ ښۀ عالم پښتانۀ ضائع شول. اما هيڅ معطل ئې په کوټ اخستۀ ونۀ کړ. راجپوتانو قلعه خالي کړه. بعضې پکښې په قتل ورسيدل. [٤٧١] بعضې په خنګل ننوتل ښۀ فتح ئې وکړه پس له هغه ئې تارا ګړهـ هم محاصره کړ. (١) په دا ميان کښې دې مونږ خان چې خوشحال خان ختټک دے له خپله لښکره سره ورغے دۀ په خپل بياض کښې کښلي دي چې اول (٢) خدمت بادشاهي چې پلار مې شهباز خان وفات شۀ دا وۀ زۀ په صلاح د اولس خان شوم. زۀ په مجرد د رسيدو چې ورغلم بهادر خان او اصالت خان دواړه سره ناست وو. يوه مورچه تمام لښکر د هندوستان په هغه خائے وۀ په وار وار دواړو نيولے وۀ. اما جنګ چې عظيم وشۀ چا قائمولے نۀ شۀ. زۀ چې ئې تازه نو آمده وليدم راته ئې د هغې مورچې تکليف وکړ دې ما هم خائے د عذر نۀ وۀ. دوه زره توپچيان هندوستاني چې د دمړې په کار نۀ وو راسره ئې تعينات کړۀ. ورغلم مورچه مې قائمه کړه. اما تمام لښکر د جګتا (٣) په يوۀ ځل هجوم راباندې راوړ. هر چې دوه زره

توپچیان هندوستاني راسره وو. شکست فاش ئې وکړ. په تیښت تر کوزه لویه لښکره یکهمان لاړل. د چا پښه ماته د چا لاس. هر چي نامرد بیدله دې مونږ رفیقان وو هغو هم فرار له هغو سره وکړ. دا متل دے چې د مړني زړهٔ د غوولي په ښېښو کښې دے. اخر الامر دې م سره پنځوس کسه خوانان په خپله مورچه کښې قائم پاتو شول. اما راته په جد شول چې عالم ډیر راباندې راغے ورځ د جنګ نهٔ ده. خان غنیمت ګڼلے بویه. ما ورته ووئیل دې ما اول خدمت دے او تمام لښکر د هندوستان دې ما تماشبین دے. اوس په دا حال چې زهٔ ګریزار ورشم مرګ بهتر تر دا ژوندون دے. هغو رفقاؤ هم اختیار د مرګ وکړ چې تهٔ مرے دې مونږ مرګ قبول دے. نور مې ورته ووئیل چې کهٔ باري مرئ هسې شان کارزار ښکاره کانئ چو خلق مو په دعائ خیر یادوي. چې غلیم زړهٔ ور شکست فاحش دې مونږ د لښکر لیدلے راباندې راغے. مونږ په یوهٔ ځل د مورچه حمله وکړه. ور ووتو د غشي د ټوپک وار سره تیږ شهٔ. د تورو د چړو کار پیښ شهٔ. چې دوه ګزاره مو سره وکړهٔ دوي ګمان وکړ چې پښتنه پښوني راته کړي ده شکست فاحش پرې ګډ شهٔ. ډیر کسه ځني علف تیغ بیدریغ شول پسماندہ ځني په ځنګل ننوتل. نور هرګز دې مونږ په مورچه رانغلهٔ. هغه تبني عالم اصالت خان یساول پسې تعین کړهٔ بیا ئې راوستل. هم له خان علیین مکان نقل دے چې یوه سخته مورچه وه د بهادر خان د عالمو. ډیر زور پرې د قلعي عالمو راوړ. بهادر خان ولاړ شهٔ تماش ئې کړه. اما هسې شان جنګ ئې راوړ د قلعي عالمو چې وسواس پیدا شهٔ چې د مورچې خل به ضائع شي. ماته بهادر خان وفرمائیل چې خوشحال خانه کهٔ کومک دې ما د عالمو وکړے ور روان شوم. هغه زمان دې ما خپل عالم راسره کم وهٔ چې ورغلم هسې شان ګولي د ټوپک وریدے لکه باران. په هغه هسې حال مونږ الفتان او خیزان هغې مورچې لره وختو شیخ ظریف د بهادر خان جماعه دار (۴) سر څوکي ناست وهٔ. هضیم په لاس تراش ئې کاوهٔ. (۵) چې ز ئې ولیدم راته وموسید چې خوشحال خانه تاسو هم راغلئ. نور ئې راته ووئیل چې سر مهٔ پور کوئ چرې په چا ګولي ونهٔ لګي. اخر ښهٔ تردد څو خوانانو وکړ الله تعالیٰ فتح [۱۷۲] راکړه (۱) ترددات چې خان علیین مکان په دا کار کښې کړي وو په عرض د بادشاه رسیدلي و خلعت فاخره په اضافه منصب سرفراز شهٔ وطن ته ئې رخصت کړ. غفور بیګ وغیره اکو خیل چې په څهٔ سبب آزرده لاړ وو د نجابت خان امرا سره نوکران وو ورسره ئې راوستل پس د څو ورځو بادشاه داراشکوه بادشاهزاده قندهار ته رخصت کړ په یوه میاشت کښې د ریس په ګذر په پل پوري شهٔ. خان علیین مکان هم په ملازمت د بادشاهزاده له سرایه چې ریس دیرش کروهه مفاصله لري مشرف شهٔ. (۲) اما په وئیل د دولت بیګ کاکشال او مرزا خان

کوهاټي محال د تري د بولاق چي په وجه انعام کښي د خان علیین مکان مقرر وۀ تغیر ئي کړ. دا ځل شهزاده چي په غزني ورغے خبر راورسید چي شاه صفي د ایران بادشاه فوت شۀ. بادشاهزاده په دا خبره له غزني راوجاروت او کوچ ئي په طرف د هندوستان وفرمایۀ. پس له دوؤ دریو کالو بیا سلسله جنبان په مهم د بلخ شۀ. اول ځل (۳) و اندراب ته راغے اصالت خان قوم د احشام علي دانشمندي راولیږده وۀ بنده هم له بنۀ جمعیته هم سوارۀ هم پیاده ورسره وۀ هرګاه چي په کوتل د هندو کوه ورغلو دوه درې مقامه واقع شول. زۀ ئي په سر د کوتل (۴) تعین کړم. دوه شپې مې په سر د کوتل تیرې کړے. سختي د باد او د سارۀ او هغه منقت چي پاس په غابني مو ځکولے وۀ کۀ ئي کښم طول غواړي. دریمه ورځ نواب (۵) د لبکره سره راغے تر غابني تیر شۀ په باجګاه (۵ ا) ئي واړول. دویمه ورځ ئي له هغه ځایه کوچ وفرمایۀ. په کلي ئي اندراب د ارباب ډیره برپا کړه. ارباب مذکور ئي ونیوۀ. دریمه ورځ ئي کوچ وکړ. نژدې و سراب ته ئي منزل غوره کړ بنده هراول وۀ له قومه د هزاره مقابل شۀ او مال مویشي د احشام علي دانشمندي د قوم چي هزاره و و غرۀ ته بیوۀ مال مذکور مې خلاص کړ. بنادي خان په تردد کښي په ټوپک زخمي شۀ نواب مشار الیه سرې په طلب دې ما روان کړۀ. دوه کروهه تر اردو وړاندې لاړ وم. خپل لښکر مې هورته پریښن تنها و اردو ته روان شوم. ملک بیګانه او شپه تیارۀ وه په هر طرف مې اواز د سرپو اوریدۀ اما هیڅوک مخې ته رانغے. یو پهر شپه تیره شوه. داخل په اردو شوم. اصالت خان مې ولید. حقیقت مې د هزاره ؤ ظاهر کړ. اتفاق په دا وشۀ چي هم په هغه ځائے مقام شي. او لښکر ظفر اثر دې په سر د هزاره د سنګر تعین شي. سبا د وخته لښکر په سر د هزاره ؤ روان شۀ. هغو ضرب دې ما د لاسه لیدلے وۀ او لښکر هم د غرۀ د سره ورته ډیر ښکاره شۀ. تاب ئي رانۀ وړ. شباشب تر غرونو واوښتیدل. (۶) په سرحد د خوست (۶ ا) ورغلل. لږ څۀ اولجه او لږ (۷) سرې په هغه درو کښي په لاس راغلل. نور لښکر وجاروت. نماز پښین و ډیرې ته راغے شپه ئي تیره کړه. سبا مقید په کوچ شۀ. له لرې ځایه هورته فوځ د ایماقو ښکاره شۀ. خبر په لښکر کښي شهرت دا رنګ بیاموند چي اوزبک د غوري راغلل. اصالت خان صفونه د لښکر جوړ کړۀ. [۴۸ ا] او دا رنګ معلوم شول چي تاجک او ایماق راغلي دي. طاقت د جنګ نۀ لري چي مقابل شي. هرګاه چي دا حقیقت په تحقیق وزسید لښکر روان شۀ. په خواکښي د غابني ئي ډیره ونیوه. هغه شپه تیره شوه. په کوتل تول (۱) وختل. پاس ئي په کوتل په جلګه کښي ډیره برپا کړه. موسم د اوړي وۀ. په هغه سرحد کښي غنم ډاډه وۀ و پنجشیر ته راغلو کوچ په کوچ داخل په کابل شو. خربوزې پخې وے. لس پنځلس ورځې میوې د کابل تناول شوے.

اصالت خان رخصت شهٔ. په جلال آباد کښې په جاله کښیناستو له جلال آباده په دوه شپې کښې و کور ته راغلو. په دا سفر کښې اصالت خان رضامند شهٔ. هرگاه چې له کابله راووت ماته ئې ووئیل چې سامان د دربار وکړه. په ما پسې له وروښو سره راروان شه. په دهٔ پسې لاهور ته لاړم. بادشاه دې ما د منصب اضافه وفرمائیله او لس دولس تنه ئې دې ما د قبیلې په منصبونو سرفراز کړهٔ. یادداشت د نقدي حکم شهٔ. دوه میاشتې کم و بیش په لاهور کښې پاتو شو. نور رخصت شو. کور ته راغلو. په دې بهار کښې اصالت خان او تمام لښکر د هندوستان له شاهزاده مراد بخش سره په مهم د بلخ رخصت شهٔ. پښاور ته راغې. (۳) سرانجام ئې د لښکر وکړ. له اولسه د غوریه خیل او گگیاني او مهمندزي او آفریدي او اورکزي او له بنگښ نه ئې هم لښکر وغوښت او زر کسه سوارهٔ او پیاده په ما هم مقرر شول. او نهٔ زره روپۍ له خاصه سرکاره په وجه دې خرڅ و ماته عنایت شوې. دا سرداران د اولسونو لکه شیخ عثمان وغیره مرزا کوهاټي او نوربنگښ واړه په یساق تلل. زهٔ تر واړو وړاندې و اصالت خان ته و پنجشیر ته ورسیدم. لښکر مې واړه د بهادر خان سره پرېښ. د پینځو سورو سره او د پینځو پیاده ؤ سره جریده و اصالت خان ته ورسیدم. لښکر کوچ په کوچ په لارې د کوتل روان شوې وهٔ. دې ما دا گمان نهٔ وهٔ چې په دا سرعت به تلل د لښکر صورت بیاموم. او سامان مې د توښې هم کړې نهٔ وهٔ. او سرې او اسباب واړه ورروستو پاتو وو هرگاه چې په کوتل تول ورغلو غاښې واؤرو لاندې کړې وهٔ. په غاښې ختل مشکل شول. بهادر خان او اصالت خان چې به هره ورځ غاښې ته ورغلل ډېر خلق به ئې په غورزول د واؤرو تعین کړهٔ. واؤرې به ئې یو سر بل سر غورزولې چې کهٔ لار ښکاره شي. اما کار صورت نهٔ نیوهٔ. اخر اتفاق په دا وشهٔ چې پاس په دا واؤرو قدم کیږدئ. تر غاښې واؤړئ. اول حکم و راجا روپ (۴) ته وشهٔ. راجا روپ روان شهٔ. زهٔ هم لکه نور خلق هره ورځ غاښې ته ورته ورغلې وم. اصالت خان وفرمائیل چې فلانه راجپوت وغیره وړاندې لاړ دې تهٔ هم ورځه. پاخیدم په پې د هغو روان شوم لار ئې د میږیو غوندې کړې وه. قدم مې په قدم د دوي کښیښ پاس په دا واؤرو روان شوم. په سهولت تر غاښې تیر شوم. گمان د خلقو دا رنگ وهٔ چې هرگاه واؤرې یوه نیزه دوه نیزې پریوتلي دي چې اس یا سړې پاس پرې قدم کیږدي پکښې به غرق شي. اما دا رنگ کار نهٔ وهٔ. په تلل کښې به لږ کي جنبش او حرکت واؤرو بیاموند. هرگاه [۱۷۹] چې خلق پاس پرې تیر شهٔ یخ غوندې چم شوې. خلق په فراغت پاس پرې تیر شهٔ. هغه محنت چې بهادرانو په غورزول د واؤرو تصور کړې وهٔ واړه عبث وهٔ په ډېر عبور سره لوړ ژور پیدا شهٔ او چیقړ وشهٔ. له څو خوانانو سره پیاده تر غاښې کوز شوم. او ډیره په

دشت کلان کښې پسته پاتو شوه. په يوهٔ غار کښې د غرهٔ مو ډيره ونيوه. هغه شپه طعام ميسر نهٔ شهٔ په لوږه مو تيره کړه. بلکې پاس هم په غاښې غله د خريد موجوده نهٔ شوه. ډير تنگي د غلې وه. په بدحال هغه مقام په غاښې تر سره يوور شهٔ. زهٔ تر واړو وړاندې و سراب ته ورغلم. په دا گمان چې شايد غله په لاس راشي. هورته هم غله ميسره نهٔ شوه و تاڼې ته د جگت سنگهه چې چوبينه قلعه ئې سازه کړې وه خپل خان او خپل خلق ئې په اندراب کښې پرېښې وهٔ. ذمے ئې په قلعه کښې تير کړے وهٔ. دوې مې خپل گټل قصد مې و هغه قلعه ته وکړ هغو راجپوتانو گنوارو او ناپکارو ور د قلعې ونيو سرې ئې دې ما نهٔ پرېښول. او وې وئيل چې څه مونږ صاحب خپل ونهٔ وينو اعتبار په هيڅ کس کړوني نهٔ يو. کهٔ هر څو ډير څهٔ ورته ووئيل شول قبول ئې نهٔ کړل. له دوې نااميده شو راغلو په غاړه مو د رود ډير لرگي تودهٔ کړهٔ اور مو بې پورې کړ چارچاپيره تر اوره حلقه شو په اميد د طعام له لښکره جدا او له تگ و پويه سنړې کښيناستو. اودس مې تازه کړ دوه رکعته نفل مې وگزارل. لاس مې په دعا پورته کړهٔ وې مې وې يا مسبب الاسباب کهٔ په باب د دې بندگانو ور د رزق پرانزے ډير په موقع دے باعث به د ژوندون د ديو څو تنو چې وبله سره يو وشي. په دا ميان کښې يو شخص د تاجيک پسهٔ تر گردن نيولے په لور د هغې دره چې پکښې قلعه د راجپوتانو وه تهٔ. هغه شخص مې خان ته وبالهٔ. هر چې ئې غوښتل هغه مې ورکړهٔ او منت مې په خان بار کړ. پسهٔ مې هغه زمان ذبح کړ. لرمون مې ئې په اور واچوهٔ لږ څهٔ وريت شهٔ. له اوره مو راواخست او اور مو د لوږې پرې مړ کړ. دوه درې تنه مې بيا روان کړهٔ چې هغو هندوانو ناپکارو ته ووائي چې کهٔ يو سير غله په يو مهر خرڅوئ زر موجود دې مضائقه د زرو نشته. دا بې مروتي چې مو کړې ده چې قلعې ته مو پرې نښو دا ډيره وه. غله له مونږ مهٔ دريغوئ. په زړهٔ ئې رحم وشهٔ يو سير اوړهٔ ئې په طريق د ضيافت راستول. هغه يو سير اوړهٔ او هغه پسهٔ مو قسمت کړهٔ. شل تنه چې راسره وو واړو وخوړ. قوت لا يموت ئې حاصل شهٔ. هغه شپه مو په هغه مکان تيره کړه. سبا د وخته پاڅيدو سر مو د لښکر د لارې ونيو منتظر وو چې اوس به بهير راشي اما خبر راورسيد چې لښکر مقام وکړ از راه ضرور و اړدو ته روان شو. لا په لار وم چې سرې د اصالت خان دې ما په طلب راغلل. پخوا تر ډيرې و دهٔ ته ورغلم. اصالت خان او بهادر خان يو ځائے په خرگاه کښې ناست وو. آغاز ئې د گلې او د شکوې وکړ چې مونږ تهٔ مرد آدمي شمارلے وے دا کوم زيب لري چې سړيو دې تا د خسرو سلطان چې خوږے د نذر محمد خان (١) دے بې عزتي او زورل وکړ. زهٔ حيران او منفعل شوم. [١٨٠] هيڅ نهٔ پوهيدم چې څهٔ ووايم خاموش پاتو شوم. پس له يوهٔ ساعت پاڅيدم او ډيرې ته راغلم او ماجرا د خسرو سلطان دا رنگ وه. هرگاه له

غابني کوز شوم. شپه مي تيره کړه په خريد د آذوقې مې قصد و قلعې ته د جګتا (۱) وکړ. په وخت د غرمې په باغونو کښې د سراب سرې له قومه د احشامات له ارتينو او له فرزندانو سره په اميد د سايې د ونو راغلي وو خبر مې ئې واخست چې شايد غله له دوې څخه موجوده شي. اما دا رنګ معلوم شول چې دا خلق د سلطان خسرو دي له لاسه د تالان د اوزبکو له قندوزه (۲) راروان و دې غرۀ ته راغلي غواړي چې په درګاه د سلطان مستغاثي شي. مونږ هم غرمه په هغه باغ کښې تيره کړه. يو ساعت مو دوې سره ګپې وکړے. دوې نوم دې ما تحقيق کړے وۀ. نمازپښين مې وګزارۀ. په لور د جګتا د قلعې روان شوم. په مونږ پسې سرې د بهاذر خان و هغه باغ ته راغلۀ سرې د خان مشار اليه چې په لوټ آموخته وو هغو ته ئې تصديع ورسو له ګمان د دوې دا رنګ وشۀ چې سکه دا هم د دۀ ملۀ دي. و اصالت خان او بهادر خان ته ورغلل مستغاثي شول. دوې بدګماني په دا په ما وکړه بې موجبه ئې اظهار د ګلې او د شکوې وکړۀ. له ډيره خجالته دم بخود پاتو شوم. نۀ توانيدم چې حال مې ظاهر کړے. القصه هرګاه چې ديرې ته راغلم له انفعاله هيڅ نۀ پوهيدم چې څۀ وکړم له ډيره قهره مې خپل سرې آزار کړۀ. پس له هغه مې پوښتنه د آذوقې وکړه. په ډيره کښې هيڅ موجود نۀ وو. بازار ته مې سرے واستوۀ شايد شل سيره وريژې ئې په هزار تالاش په ديرش روپۍ واخستے را ئې وړے نيمائي مو پخې او نيمائي مو ذخيره کړے. هرګاه چې اودۀ شو څوک خپل يا بيګانه راغے هغه وريژې ئې پټې کړے. هرګاه چې سبا خبر واخست شۀ چې وريژې نشته هغه دلګيرې مو نۀ هيريږي. کۀ په عوض د هغو وريژو هومره زر ورک شوے وے هومره حسرت به مو څکولے نۀ وۀ. هورته په ليدل د خسرو سلطان مقام وشۀ. اصالت خان په ديدن د خسرو سلطان روان شۀ. زۀ هم ورسره وم. او خپلو سړيو ته مې وئيلي وو چې کۀ غله په لاس راځي ګرانه ارزانه ئې پيرئ. هر چې موجوده شوه وائ خسته. طعام ئې پوخ کړ. هغه شپه مو طعام په مړه ګيډه وخوړ. بله ورځ کوچ واقع شۀ و اندراب ته ورغلو هورته اوربشې ډاډه وے بارې لښکر ته قوت لايموت حاصل شۀ. له هغه ځايه کوچ وشۀ. شپه تر منځ و نارين (۳) ته لښکر د بهادر خان او د توابع ئې راغے. په نارين کښې فصل رسيدلے وۀ. ستر ګې د خلقو مړې شوے. هورته څو مقامه وشول. لښکر دې ما هر چې سوارۀ پياده وو قريب د زرو کسو وو. له ورونو او له اسبابه او له آذوقې سره له لښکره د مراد بخش راغے. په مجرد دې ما د لښکر د رسيدو اصالت خان زۀ وبللم. په سر ئې د هزاره ؤ د خوست چې ارباب د نارين له فساده د دوې فرياد کړے وۀ تعين کړم. يوميه مې له اربابه واخسته. پس له يوۀ پهره چې شپه تيره شوه سور [۱۸۱] شوم. سبا د وخته په غرونو د شيخ چې هورته سنګر د هزاره ؤ وۀ ورسيدم. دوې بې

جنګه عیال او مال پریښ و غرونو ته وختل. قریب تر تیرصو کسو بند او دوه درې زره مال مویشي په لاس راغې نور راوجاروتم. په غرمه لښکر ته راغلم. بند او سرونه مې د هزاره ؤ چې دې ما لښکر پریکړې وو تر نظره د اصالت خان تیر کړۀ او مال اولجه مې په خپل لښکر قسمت کړۀ. په وخت د نمازپښین اصالت خان زۀ په ملازمت د شهزاده ورروستم. سرونه ئې د هزاره ؤ تر نظره تیر کړۀ. په دغه وخت په میان د شهزاده او د اصالت خان په بدسلوکی د نواب علي مردان خان سلوک ښۀ نۀ وۀ مجرئ مې هیڅ ونۀ شوه. بلکې مذکور د دې مقدمې هم رانغې. بله ورځ له هغه ځایه کوچ واقع شۀ. دوه شپې تر میان و قندوز ته ورسیدو. په میدان د قندوز او د نارین پسته زارونه ډیر په نظر راغلل. قندوز ته ورغلو. درې څلور مقامه هورته وشول. په لار د دریاب په ریګ زار متوجه د بلخ شو په درې څلور شپې کښې خلم (۱) ته لښکر راغې. په دا ریګ زار کښې ملایمین فوت شۀ. له خلم په آستانه او له آستانې یو نیم پهرورځ تیره وه چې سوارې په قلعه د بلخ (۳) وشوه. لښکر چې په لار د کهمرد (۱۳) راغلې وۀ په دې ځائې له لښکره پیوست او ملحق شۀ. په جنګو (۴) کښې د بلخ صفونه صفونه لښکر ودریدۀ. مقرب خان دکنې ئې واستوۀ. دروازه ئې د ښار په دۀ وسپارله. ګمان د نذر محمد خان دا رنګ وۀ چې لښکر د چغتې په امداد او په کومک دې ما راځي. چې په میان کښې د اوزبکو او د عبدالعزیز خان چې د دۀ ځوے وۀ ناسازګاري او مخالفت وۀ. هرګاه چې لښکر د هندوستان په ښار د بلخ داخل شۀ منادي ندائ وکړه او نغارې ئې وغږولې چې دور د شاهجهان دے. لښکر د اوزبکو خان (۱۴) څخه نۀ وۀ بلکې درې څلور زره اوزبک د بلخ چې د خان څخه حاضر وو. هرګاه چې لښکر وخلم ته راغې دوې و خان ته ووې چې کۀ حکم وشي خوانمردي او مبارزت به په جنګ ښکاره کړه. خان دوې ته ووې چې دا هغه لښکر دے چې ما بللے دے چې دمار د روزګار دې تاسو په دې لښکر وباسم. نۀ دا چې تاسو په جنګ د دوې مستعد کړم. هرګاه چې اوزبکو دا واوریدل کوچمال روانه په طرف د شبرغان او د سرمل او د اندخوئ شول او غلامان چې د دوې وو و دوې ته ئې خبر ورساوۀ چې هرګاه لښکر د چغتې داخل په ښهر شۀ نغارې ئې وکړے چې دور دور د شاهجهان دے او اواز د نغارۍ خان خود په خپلو غوږو واورید. په اوریدل د دې اواز حکم ئې وکړ. اسونه ئې زین کړۀ هر قسم جواهر چې توانیدۀ بار ئې کړۀ له ځانه ئې روان کړۀ. د اویا اتیا سورو سره سور شۀ. په دروازه د جنوب راغې. هغه سرې چې د رستم خان په دروازه ناست وو صم بکم پاتو شول. دا هومره ئې ووې چې خان چرته ځي؟ غلامانو د خان ووئیل چې خان باغ ته چې هورته ئې قبر د والدې (۵) دے ځي. او په هغه باغ کښې به سرانجام د شهزاده د ضیافت وکا. هندوستانیانو

اعتبار د دوي په وئيل وكړ. خان ته ئې لار ورکړه. تر دروازې ووت. مفت ئې له ميانه لاړ شهٔ.
نماز [۱۸۲] پښين شهرت وشهٔ چې نذر محمد خان له قلعې بهر وت دپاره د کنکاش او
مصلحت په ډيره کښې د امير الامرا علي مردان خان واړه امراګان جمع شول اتفاق په دا وشهٔ
چې بهادر خان او اصالت خان دې ورپسې روان شي. په وخت د نمازديګر دواړه عزيزان (۱)
سوارهٔ شول. بنده هم د اصالت خان سره سور شهٔ. په ښهر کښې د بلخ خلق تار په تار شهٔ.
شپه هم تيارهٔ وه هيڅوک واقف نهٔ شول. چې بهادر خان او اصالت خان چرته ولاړل. تر نل
درې پورې اکثر خلق په خپل سر روان شهٔ. شمشير خان ترين (۲) او علاول خان سرګشته
ګرزيدل يو د بله پيښ شو. په سر د پل کښيناستو حيران او متفکر وو چې په کوم طرف روان
شو. يو ملک بيګانه او بل د نوي غليم په ملک راغلي او بل راهبر هم راسره نهٔ وهٔ. علاول
خان په دا راضي شهٔ چې بائده دي چې ښهر ته وجاروځو. ما دا مصلحت پسند نهٔ کړو
شمشير خان ته مې ووئيل چې علاول خان مرد عياش طبيعت دے. مئين په فراغت دے. بهتر
دا دي چې محنت قبول کړو. مخ په قبله روان شو خدائ هادي دے انشاء الله مونږ به و مطلب
ته ورسوي. مصلحت ئې دې ما پسند کړ. پاڅيد سور شهٔ علاول خان هم له ضروره سور شهٔ
رفاقت ئې اختيار کړ. مخ په قبله روان شو. هرګاه چې شپه تيره شوه. عالم ظلماني نوراني شهٔ.
نظر مو وکړ نښان د بهادر خان او د اصالت خان په نظر راغے. القصه په سر د جوئے کوز
شوې په اوداسهٔ په نمانځهٔ مشغول وو. چې مونږ هم راغلو ورسره ملهٔ شو خاطر مو جمع شهٔ.
نمونځ مو وکړ. غرمه په يوه کلي کښې کوز شو ارام او استراحت مو وکړ. هرګاه چې
نمازپښين وګزارهٔ شهٔ سوارهٔ شو درسته شپه مو لار ووهله تر غرمې پورې تللو بيا په يوهٔ کلي
کښې چې د اوزبکو د لاسه خراب پروت وهٔ. کوز شو. بيا نمازپښين سوارهٔ شو درسته شپه
مو لار غوڅه کړه په وخت د سبا د مانځهٔ په سر د هغه پل چې په ميان د بلخ او د شبرغان (۳)
واقع دے ورسيدو. هورته مو مونځ د بامداد وکړ. نور سوارهٔ شو په وخت د نمازپښين تر
شبرغانه دوه درې کروهه په دې طرف دوه درې کلي وو هورته داخل شو. په وخت د
نمازديګر ئې خبر راوړ چې نذر محمد خان له دولسو کورونو د اوزبکو په شبرغان کښې
دے. اتفاق په دا وشهٔ چې لښکر دې تزک وکا. په ښهر د بلخ دې روان شي. په اوريدو د دې
خبر مسلمانان او هندوان چې هورته وو تاب ئې پاتو نهٔ شهٔ. د بهادر خان او اصالت خان تر
زرو پونصو سورو زياتي نهٔ وو په هسې روش له بلخه راوتل وشول چې له پنج هزاري امرا سره
شل دېرش سوارهٔ وو. د بهادر خان هغه لوئے لښکر چې وهٔ د هغه هومره لښکره دوه صوه تير
صو سوارهٔ ورسره پاتو وو. او اصالت خان سره ديرلس سوارهٔ وو. (۴) او لښکر د غليم ډير

واوریدهٔ شهٔ. کهٔ جنګ نهٔ کا مشکل او کهٔ جنګ کاندې مشکل تر شپه مو په زړو اندیښنو تیره کړه. په ضرور مو صفونه د لښکر ترتیب او فوځونه د میمنې او د میسرې او د قول آراسته کړهٔ. روان و شبرغان ته شو. یو نیم کروه چې لاړو سپاه د غلیم مخ ښکاره کړ آهسته آهسته [۱۸۳] ورنږدې شو قریب پونصو سوارهٔ پاس په بلند ځائے ولاړ وو. له هغه ځایه راکوز شول و جنګ ته ښهٔ راغلل ګمان مو وشهٔ چې دا ځوانان جاهل جنګ غوښتوني دي. قراولي ئې د لښکر اختیار کړې ده او غواړي و جنګ ته راغلل. نور په ستنه تر غونډۍ دي. هغه سوارهٔ مو واخستل دوه درې سوارهٔ د دوي په میدان پریوتل او کوکه د اصالت خان آقا طاهر نومیدهٔ او دوه درې ښتانهٔ د بهادر خان پریوتل یو سور په دوي کښې وهٔ ډیر تردد ترې ظاهر نهٔ. آخر واوریدهٔ شول چې دا خود خان وهٔ. هرګاه چې پاس په غونډۍ وختو اثر د غلیم په نظر رانغے یو کروه وړاندې لاړو. په ډیرې د غلیم ورغلو. مخ ئې په تیښته ونیو مال او مویشي او لښلي اوښان په ډیره کښې پاتو شول. هر چا چې خواهش د اولجه درلهٔ په اولجه پسې لاړل. دې ما سره اولس اتلس سوارهٔ وو هر څو اولجه چې ئې په لاس کښیوته رائ وړه. لښکر د بهادر خان ډیر لوټ وکړ خلق د شبرغان او د تاجک په مال د اوزبکو معمور شهٔ. هورته مو ډیره وکړه. سبا و شبرغان ته راغلو دروازه د قلعه ئې پرانته قاضي د هغه ځائے په استقبال راغے حقیقت ئې د اوزبک بیان کړ چې د خان سره دولس زره کوره د اوزبکو وو. قرار ئې په دا کړے وهٔ چې په اتفاق په سر د بلخ روان شئ. هرګاه چې خبر راورسید چې لښکر د چغتې دلته راغے بدګماني ئې په خان وکړه چې هرګاه خان آزردګي په خاطر لري مبادا به فریب و مونږ ته راغلے په دا بهانه مو په لاس د هندوستان د لښکر ورکا و خان ته ئې دا بدګماني ظاهره کړه. خان سوګندونه مغلظه وکړهٔ. اما دوي باور ونهٔ کړ. هرګاه چې له دوي ناامید شهٔ له څو سوؤ سورو سره چې ورسره وو په جنګ حاضر شهٔ. الغرض هرګاه چې اراده د حق تعالیٰ دا رنګ وه چې لښکر د هندوستان په بیګانه ملک کښې تلف او ضائع نهٔ شي دا بدګماني په میان د دوي پیدا شوه. که نه هغه ورځ اوزبک د خانه سره په اتفاق راغلي وے اګر چې کهٔ مونږ هم مرګ اختیار کړے تقصیر به مو هیڅ کړے نهٔ وهٔ. اما بیا به څهٔ شوي وو. هرګاه چې بهادر خان او اصالت خان غوندې سرداران په دا روش مړهٔ شوے وے هغه لښکر چې په بلخ کښې وهٔ چاته به تاب د مقاومت پاتو وهٔ. بلکې بې جنګ بې جدله به هلاک شوے وهٔ. دوه ځایه قابو اوزبک موندلے وهٔ. یو په خلم کښې چې هرګاه لښکر ډیره شهٔ بند مات شهٔ جوئ وچ شهٔ خلق له تندې قریب الموت شهٔ. بیګاه ته ئې بند وتاړهٔ. اوبهٔ راغلے کهٔ په دې ورځې دوه درې زره اوزبک راغلے وے تمام لښکر ته کافي وو او بل په دا

خـائـے نـذر مـحـمد خان و جنگ ته راغـے . کۀ اوزبـک اتفاق ورسره کړے وے لاس به ئې د غـلبـې مـونـدلـے وۀ. اما هر ګاه چې بد دعا د بزرګانو په باب د دې بې باک ګروه و آسمان ته رسـيـدلـے وه فـکر د دوي په وخت د کار خطا وخوړه. پينځۀ شپږ ورځې په شبرغان کښې وو خبـر راورسيـد چـې اوزبکو خپل عيال اولاد له آب آمو (۱) پـورې کـړۀ. نبنـان د شهزاده په بهـادر خـان صـادر شۀ چې اندخوئ ته ولاړ شه. له هغه ځايه کوچ وشۀ په ميان د اندخوئ او د شبـرغـان يـوه بـاغچه وه دوه درې شپې هورته پاتو شو. بل نبنان په بلل د دوي راغـے . اصالت خـان او بهادر خان حقيقت د دې فتحې په ډير آب و تاب وکيښ. روان ئې و درګاه ګيتي پناه تـه کړ. دولت بيګ کاکشال چې اصالت خان د دۀ سره بنۀ نۀ وۀ هرګاه چې جنګ [۱۸۴] د نـذر مـحمد خان وشۀ او شبرغان ته راغلو په دغه ورځ په لږ څۀ اصالت خان د دۀ پيچش وکړ فحش ئې ورته ووې. په دا سبب آزرده و بلخ ته لاړ شۀ. حقيقت ئې د دې جنګ و امير الامرا علي مردان خان ته ووې. امير الامرا په اتفاق د دۀ په عرض د بادشاهزاده ورسول چې دا چې بهـادر خـان او اصـالـت خـان کښلي دي چې د نذر محمد خان سره دا هومره اوزبک وو ډير جـنـګ و جـدل وشـۀ او دا هومره ومړل واړه ئې دروغ کښلي دي. په شماره څو تنه په قراول راغلي وو هغه ئې سر کړۀ بلکې پخوني ئې وکړه واړه ئې قراول دستګير ونيول. هرګاه چې دا ګـفـتـګـوئ په ميان راغـے کار د اوزبکو عظيم فتح هسې ځائے ورسيدۀ چې پائمال شۀ. آخر په وئيـل د قـاضـي د شبـرغان او اهالي د هغه ځائے لږ څۀ تصديق د اصالت خان او د بهادر خان د قـول وشـۀ. لـه حضوره اضافه او منصب د دوي د همراهانو وشۀ. او مواجب د بنده هم اضافه شـۀ. لـه هغه ځايه و بلخ ته راغلو. (۱) نـقـل دے لـه ملا عثمان چې دے په دا مهم له خان عليين مکان سره حاضر وۀ. ډير مرد راست درست وۀ چې سبا به جنګ د اوزبک سره کيږي. خبر راغـے د هـنـدوسـتـان پـه لښـکـر دهشـت شۀ. خان عليين مکان د اصالت خان سره ناست وۀ. اصـالـت خـان په زړۀ دلګير شۀ. ما ته ئې وفرمائيل چې تۀ ورشه بهادر خان ته ووايه چې دا دې پـه څۀ بلا ګرفتار کړو. په راغلۀ دې دا فکر نۀ وۀ چې وراندې حريف شته. زۀ ورغلم سلام مې ورتـه و ـر. پـس لـه سـلامـه مـې ورتـه حـقيقت چې اصالت خان راته وئيلے وۀ عرض کړ وې فـرمـائـيـل چـې دې مـا دعـا پـه اصـالـت خـان ووايه او ورته ووايه چې خاطر جمع لره. زړۀ مۀ کـوزوپاس کوه کۀ خدائ کا سبا به ووينے چې څۀ کارونه ځوانان ورته د تردد ښکاره کا. هغه مـردان چـې پـه ډير لښکر فتح وکا مردان هغه بولي. بهادر خان په پالکۍ کښې ناست وۀ ترڅ نې وۀ آدم خان (۲) نـوميدۀ ورته ئې ووئيل چې کاکا (۳) سبـا زمونږ د بلخ بادشاه سره جنګـ دے په دا دواړه توکه زمونږ برے دے کۀ دے مات شي د بلخ بادشاه به مو مات کړے وي او کا

مونږ ومږو دا ځـائے ځلي به مو ساز شي. په مدت به عالم وائي چې پښتنو د بلخ بادشاه سره جنګ وکړ شهيـدان شـول. تـرهٔ ئې ورته ووې هسې دې نواب سلامت (۴) انشـاء الله تـعالي خـايے دے د جـنګ. پـس لـه هـغـه مراد بخش شاهزاده د بلخ په نيولو شاهجهان ته وکښلهٔ. د بادشاه په زړهٔ بده ولګيده ورته ئې وکښل او دا بيت (۵)

تیغ کہ آسائش از فیض خود دہد آب — تنہا جہان گیرد بے منت سپاہی

مـر د بـخـش نـې تـغيـر کـړ. اورنګ زيب ئې واستوهٔ. حکم ئې وکړ چې اوس دا لښکر دې دروميې بـخارا دې ونيسي او نذر محمد خان د ايران بادشاه ته لاړ شهٔ. د ايران بادشاه ته ئې دا غزل وکښل چې يو بيت پکښې دا دے : بيت:

تاج از ہدہد ما زاغ ربود است مگر — من بدرگاہ تو اے شاہ ازان آمدہ ام

نـور دا لښـکـر د بـلـخ د امـرايـانـو د اورنګ زيب سره بخارا ته روان شهٔ. آخر الامر اوزبک وليدل چـې تسلط د هند د لښکر زيات شهٔ اتفاق ئې اولسونو وکړ. هومره سوارهٔ اوزبک شهٔ اول چـې راغـلـهٔ د هـنـدوستان [۱۸۵] لښکر د يوهٔ سيند په غاړه ميشت وهٔ. د اوزبک لښکر پـاس د دوې د لښکر واړول. هومره خرخشې سيند راوړے چې هيبت د دې لښکر وشهٔ. اخر الامر بهـادر خـان د هـنـدوسـتـان د لښکر هراول وهٔ اورنګ زيب ورته ووئيل چې د اوزبک لښکر عظيم راغـے کهٔ دې تا صلاح وې هراول به نورو امرايانو ته ورکړم. دهٔ ورته ووئيل چې مـوږ خـو د دې ورځـې دپـاره پـکـار يـو چـې نن زهٔ هراولي پريږدم شاهجهان وته به کوم مخ ښـکاره وم. اخر مصلحت د لښکر د بخارا موقوف شهٔ. لښکر د هندوستان بيا معاودت په لور د بـلـخ وکړ. بهادر خان چې دا په عرض د بادشاهزاده ورسول. بادشاهزاده خو دے په دا کار تينګاوهٔ چې کلک شي. نور چاپير د هندوستان د لښکره د اوزبک لښکر ولاړ وهٔ مستعد په جـنګ وهٔ د هـنـدوسـتـان د لښـکـر فـوځـونـه ئې آراسته کړهٔ او امرايان چنداول هراول ميمنه ميسـره شول. يعنې څوک کين لاس څوک ښې لاس. اردو ئې په ميان کښې کړ. بادشاهزاده بهـادر خـان ته وفرمائيل چې په مخکښې فوځ چې د اوزبک ولاړ دے لار ئې د اردو بند کړې دهٔ. تـه هـراول ئـې بويه چې دا فوځ برهم شي او لار خالي شي. نور دے روان شهٔ. شايد اوبهٔ د رود هـم تر زانو پورې وے. تر دا ميان بهادر خان اول روهيليو پياده ؤ وته حکم وکړ چې په دا رود پـورې شـئ اول روهيـلـي پـورې شول نور دے د فوځه سره پورې شهٔ جنګ ئې ونښلاوهٔ اوزبک ئـې مـات کـړهٔ. هسې شان جنګ ئې وکړ چې تمام عالم بلکې دښمن هم پرې آفرين خون شول. په مثال ئې د اوزبک لکه د ګلو رمه هسې په مخ ورميدل ډير ئې قتل کړهٔ. په هر لور چې به زور د اوزبک وشهٔ اګر چې بهادر خان هراول وهٔ اما په هغه لور به ئې مټ وکړ الله

تعالیٰ به فتح ور کړه. فوځونه به د اوزبک په هسې شان په مخکښې د دهٔ روان شول لکه وریځې د باد په مخکښې درومي. هسې وائي چې د سعید خان بهادر او د بهادر خان سره دوستي نهٔ وه. په دا جنګ کښې سعید خان چنداول وهٔ اوزبک پرې زور راوړ. بهادر خان په قصد له دهٔ ځان کناره کړ کومک لره ئې ور نهٔ رغې. د سعید خان بهادر پکښې دوه درې خویه مرهٔ شول. او ډیر عالم ئې خوړ زخمي شهٔ. دے په ځان هم زخمي شهٔ.(۱) اخر الامر د بهادر خان نښانونه په توران هسې مشهور شول چې هر لور ته به دهٔ روان کړهٔ نور معطل د اوزبک د لښکر نهٔ وهٔ. په مخ کښې به ئې ماتیدل اما یو سړے په اوزبک کښې وهٔ چې څوک نقل کا چې حضرت علي رضي الله عنه ئې پنجه په شا وهلې وه. هغه به د بهادر خان د لښکر تاب راوړ. په نور لښکر د هندوستان چې به راغے د هندوستان د لښکر لکه د بهادر خان په مخکښې د اوزبکو حال وهٔ هسې د دهٔ په مخکښې د دې لښکر حال وهٔ. په دا شان هره ورځ جنګ کیدهٔ په بلخ داخل شول اخر د هندوستان لښکر وپوهیدهٔ چې بلخ په مونږ نیوهٔ نهٔ شي. اوزبکو زور وکړ نور ئې علي مردان خان تر میان کړ. زر ئې د اوزبک و امیرانو ته قبول کړهٔ چې زمونږ عذر وکانئ. نذر محمد خان راولئ چې مونږ ئې له خپله لاسه په بلخ کښې کښینوؤ. مونږ درومو. اوزبک [۱۸٦] راضي شول. نذر محمد خان ئې راوست بلخ ئې پرې وسپارهٔ. دوي کابل ته روان شول. هندوستان لره د بادشاهزاده سره صحیح سلامت راغلهٔ.

(۱) بیا څو مدت پس سلسله جنباني د مهم د قندهار ورپیښه شوه. (۲) بادشاهزاده اورنګ زیب شاهجهان په مهم د قندهار راروان کړ. بهادر خان او نور امرایان ورسره تعینات روان شول. چې تر اټک بهادر خان راپورې شهٔ از روئے اخلاص چې خان علیین مکان سره ئې وهٔ راغے د ملک اکوړ په سرائ کښې ئې ډیره وکړه میلمه ئې شهٔ. تمامه قبیله ئې لوے هلک د خان علیین مکان وبلل ډیر پرې خوښ شهٔ. خان علیین مکان ډیر طعام کړے وهٔ. هم پښتونوال هم مغلي. پښتونوال یعنې یخني روټي. مغلي پلاؤ قلیه. د هندوستان پښتنو طعام خوړ اما لکه د هندوستان عالم. بهادر خان به ورته وئیل چې دا هسې طعام خوانئ لکه د غرهٔ عالم د ولایت چې لکه د مزري هسې طعام خوري. پس له هغه بهادر خان قصد د شیخ رحمکار قدس سره العزیز د لیدلو وکړ. درې نیم کروهه مفاصله د سرائ هغه ځائے لري له سرایه او د بادشاهي لارې. نقل کا چې یو کروه نژدې هغه منزل د شیخ جیو پاتو شهٔ. نور پیاده روان شهٔ چې نژدې ورغے. سرتور پښې ابل ورته ودرید. هدیه ئې هم د شیخ جیو قریب درې زره روپۍ تر نظره تیرې کړے. التماس ئې وکړ چې یا شیخ راته دعا د بادشاهۍ وکړه او حکم د خروج راکړه. د دولس زره لښکر اواسباب مې واړه تیار کړے دے. حضرت شیخ د دهٔ دپاره مراقبه وکړه.ورته ئې

ووئيل چې هر گاه بادشاه تاته گوري تهٔ ورته پورته گورے او کهٔ کوز؟ دهٔ التماس وکړ چې دے ،اته گوري زهٔ کوز گورم. نور ئې ورته ووئيل چې بنه هر گاه چې تهٔ لا ولايته بيا راشے دا خواب به هله درکړم. معلوم شول چې کوز کتل ئې حق د نمک وهٔ چې قندهار لره بهادر خان لاړ موري وفات شهٔ بيارته رالغے. نقل دا رنګ ذے چې قندهار د هندوستان لښکر محاصره کړ. ډير ئې تنګ کړ اما کاروبار د قلعې محکم وهٔ نهٔ شوه نيوے. اخر الامر مغلو راجپوتانو وارو د هندوستان لښکر اتفاق وکړ چې قلعه نهٔ شي اخستے. محضر ئې په دا باب وکيښ چې شاهجهان لره واستوؤ وارو امرايانو مهر پرې وکړ بهادر خان لره ئې راوړ چې تهٔ هم محضر مهر کره. دهٔ ورته ووئيل چې زهٔ ئې نهٔ مهر کوم. د قلعه اخستل اسان دي. تاسو ئې نهٔ اخلئ. مغلو ورته ووئيل چې څهٔ رنګ به اسانه اخستے شي. دهٔ ورته ووئيل چې تاسې تمام عالم يورش وکانئ او هر چې د لښکر دواب دي واړه په مخکښې کانئ. دا چې مړي خندق ته به ئې اچوؤ. خندق به په دا رنګ ډک شي. زهٔ به له خپل عالم سره يورش وکړم. قلعه په دا حکم د دهٔ تر همت اسانه وه هغو ته مشکله وه. بادشاهزاده او واړه امرايانو د لښکر دښمني ورسره ونيوه. وائي چې شيخ فيض د دهٔ سر څوکي جماعه دار چې وهٔ د هغهٔ سره بادشاهزاده سازش وکړ. په بيړه کښې زهر ورکړ. بهادر خان په بيړه مئين وهٔ. نقل دے چې په رنځ کښې زبون شهٔ حکم ئې وکړ د سپاه [١٨٧] حساب ئې د طلب د تنخواه وکړ. پس له هغه بيخود شهٔ. په لښکر کښې شهرت وشهٔ چې بهادر خان وفات شهٔ. دستور په هغه وخت دا وهٔ چې امرا به فوت شهٔ. په سبب د مطالبې به ئې مال په بادشاهي سرکار کښې ضبط شهٔ. متصديان بادشاهي راغلهٔ چې د دهٔ مال به ضبطوؤ. اخر الامر دهٔ بيا سترګې پورته کړے په خود شهٔ چا ورته ووئيل چې بادشاهي متصديان دي اموال د ضبط دپاره راغلي دي. وې فرمائيل چې صرفه مهٔ کانئ قتل ئې کانئ. اخر بادشاهي متصديان ئې ووهل وې شړل. بيا ئې حکم وکړ چې دو ماهه سپاه ته نوره ورکانئ. دوماهه ئې سپاه ته زياتي ورکړه. نور وفات شهٔ. (١) دا څل لښکر د هندوستان له شهزاده اورنګ زيب سره بې نيل و مرامه وجارووت. تمامي لښکر علوفه خور د ايران مطابق د هغهٔ چې له دانا نه د هغه ځائے ظاهر شوي دي ديرش زره سوارهٔ دي. شل زره د بادشاه نوکران اووهٔ زره قورچي درې زره غلامان لس زره تفنګچي او لس زره جمعيت د امرا دي. او سوا تر دا پينځهٔ زره سوارهٔ نور اميدوار د نوکرى دي چې کهٔ په يساق کښې نوکران ومري دوي ئې په ځائے صحيح شي. حاصل د کل ايران اووهٔ لکه تومان دے. چې دوه کرروړه څلويښت لکه روپى کيږي. په برابر د دريو صوبو د هندوستان لکه اکبر آباد، او

شاهجهان آباد او دارالسلطنت لاهور چې صل کروړه دام جمع لري. دوه کروړه پنځوس لک
روپۍ ئې حاصل دے یافت د وزیرانو چې اعتماد الدوله بالۀ شي. سالیانه په طریق د علوفې
لک روپۍ مقرر دے. له رسم الوزارت سره چې هغه وزیران بادشاه ته پیشکش کوي دوه لک
روپۍ د سپه سالار لک قورچي باشي پینځۀ لکه بیګ لربیګي د خراسان چې له واړو زیات
مومي. پس لس لکه روپۍ نور اولکه داران تاڼ داران مومي. تفنګچي او قورچي قلوا آقاسي
یوزباشي سر آسامي تر لسو او تر دیرشو تومانو او څو په دوي کښې تر څلویښت او تر
پنځوسو تومانو هم مومي. نور سائر تر اوو تر پینځو تومانو یو تفنګچي چې سنګ باشي وي
تر پنځوسو تر شپیتو او یوزباشي تر پنځلسو تر دیرشو نور ئې تر څلورو تر پینځو او غلا
یوزباشي تر پینځلسو تر دیرشو د دې جماعې نه هم بعضې څلویښت پنځوس تومان مواجب
مومي. بیا راغلو قصې ته. فرزندان د بهادر خان ډیر وو اما هر چې پکار وو دلیر همت او عزیز
خان وو (۳) دلیر همت ډیر بهادر او عالي همت تر پلاره یو په لس بهتر وۀ اما ځواني مرګ
ومړ. بیت:

درین باغ رنگین درختے نرست | که ماند از قضائے تبرزن درست

هر چې دۀ کارونه کړي دي اوس به ذکر شي. عزیز خان په خپل وخت د دکن په یساق کښې
تردودنه تالاشونه وکړۀ. مراتب ئې د منصب تر سه هزاري ورساوۀ. همت، سخاوت
شجاعت، مروت، حیا آشنا پرستي پکښې ډیره وه. اما نور اولاد ئې لکه دستور د هندوستا
دے چې درې پیړۍ پکښې تیرې شي عیش هومره پرې غالب شي چې له نوره نام و ننګ
ورخي. دا هم هسې شول. (۳) **ذکر د دلیر همت د بهادر خان د ځوي:** ابتدا د اجمیر
په جنګ ئې هسې تردد کړے وۀ چې د هغې فتح سبب دے وۀ نمایان [۱۸۸] تردد ئې وکړ
بیا د ندارجارې د ګوارو چې اورنګ زیب فوځدار کړ. هسې عمل ئې وکړ چې تر دۀ پخوا
پس تر دۀ بیا چا ونۀ کړ. د کابل د صوبې د سید میر په وخت تعینات شۀ. هزاري منصب ئې
وۀ. زموني پلار جنت مکان اشرف خان د سید میر سره په کابل وۀ. یوه ورځ د سید دربار ا
ورغلے وۀ یو اس وۀ تر کي نقرئ ساز پرې باندې وۀ. په هغه سور شوے ولاړ وۀ. دلیر همت
ولید پوښتنه ئې وکړه چې دا اس د چا دے؟ جلودار ورته ووئیل چې د اشرف خان دے. خا
جنت مکان چې ډیرې ته راغے خبر شۀ هغه آس ئې واستوۀ چې کۀ دې تا خوښ وي وائ خل
بیا ئې پسته ورته راستوۀ. پس له څو ورځو سید میر خان جنت مکان اشرف خان په قید کړ
دلیر همت واوریدل ورغے سید میر ته ئې عرض وکړ چې د فلانه حاضر ضامن زۀ یم. خلاص
ئې کړ. چې د کابل کوچ وشۀ په مقام د جګ دلي (۱) لنبکر راغے د سرائ عالم چې د یوس

زو په سنګاوو وۀ راغلۀ سرائ ئې وواهۀ تاراج ئې کړ. (۲) خبر سيد مير ته ورسيد بيا ئې خان جنت مکان په قيد کړ. دلير همت خبر شۀ سواري ئې تياره کړه چې زۀ به د سيد مير سره جنګ کوم. هر ګاه چې زۀ ضامن شوم بيا دۀ ځۀ لره فلانه قيد کاوۀ. اخر عالم تر ميان شۀ چې د قباحت تۀ مۀ کوه. چې پښاور ته ورشي خلاص به ئې کا چې پښاور ته راغے بيا ئې د دۀ په ضامنۍ خلاص کړ. خپل ملک ئې ورکړ خوردريزه چې متفق وو په خائے شول. دلير همت د نرښهر (۳) تانه داز وۀ. په هغه آوان لنګر کوټ (۴) ودان نۀ وۀ په زيست روزګار کښې د پښتنو سره خلا ملا وۀ. په تمام سلوک ئې روزګار وۀ. په همت په ورکړه په سخا تر حاتم تير وۀ. د مړانې حساب ئې هيڅ نۀ وۀ. په يوۀ خائے د جنګ په وخت د بادشاه تر لښکر همت تير وۀ. د دۀ د سخاوت و شجاعت خبرې ډيرې دي کۀ کښے شي بويه عليٰحده تاريخ ساز شي اما مختصر مجمل بيان وشۀ. د دکن په يساق کښې د سه هزاري منصب په مراتب ورسيد وفات شۀ. الله تعاليٰ دې ئې وبخښي. ښۀ خوان وۀ وائي چې ډير قدآور خوان وۀ او زورور وۀ. روپۍ به ئې په لاس کښې ومښه سکه به ئې همواره شوه. نوے ډال به ئې په لاس کښې واخست خيرې به ئې کړ. دوه خايه به ئې کړ. وائي چې په اس به سور شۀ تر ونې لاندې به ورغے ښاخ به ئې د ونې ونيو. اس به هر څو کوشش د تګ کاوۀ تلے به نۀ شۀ. په خوراک په پوشاک ساده لکه د ولايت عالم. اکثر سفيد پوش وۀ. طعام به ئې په روڼے مجلس خوړ. ډير طعام ډير عالم به ورسره کښيناست. او خود ئې هم طعام ډير خوړ. او چا چې به ئې بې تکليفه او په مينه طعام خوړ په هغۀ به خوښيدۀ. او هر چا چې به د هندوستانيانو غوندې په نزاکت خوړ بد به ئې منل او فتح جنګ وۀ. په خپل عمر تر اخره و غليم ته د دۀ شا ونۀ شوه. علم ئې نۀ وۀ اما هميشه چې به عالمان ورځخه مصاحبان وو د هغو له صحبته ئې بهره مونډلے وه. په نمانځۀ په روژه په ديندارۍ مئين وۀ. اجتناب ئې وۀ له هغو چارو چې مردود شريعت دي. له شراب، بنګ، تماکو زنا دا ئې دښمن وو. يوسف خان [۱۸۹] د دارا شکوه سره وۀ د اجمير په جنګ کښې ومړ. (۱) نور هسې کارونه ورځنې وشول. اما دلير خان په هغو شپو کښې چې مهم د قندهار کيدۀ بهادر خان وفات شـۀ. د دۀ دوهزاري منصب وۀ. پس له هغه چې هندوستان لره راغے چې شاهجهان په بند شۀ سلطاني جنګرنه پيش شول. د دلير خان منصب سه هزاري شوے وۀ. اول جنګ دارا شکوه دپاره دلير خان او جے سنګهـ او سپهر شکوه (۳) د شجاع په جنګ کښې وکړ. چې شاه شجاع په بنګاله کښې صوبه دار وۀ د شاهجهان له لاسه. پس د بادشاه له قيده چې دارا قيد کړ په اګره کښې، له بنګاله ئې خروج کړے وۀ. شجاع ئې مات کړ. ښۀ تردد دلير خان وکړ. په دا جنګ کښې اورنګ زيب په دکن صوبه

بادشاهي توپخانې داروغه وۀ د اورنګ زيب مخې ته ورستول. په اوجين ئې جنګ وکړ جسونت سنګهـ او قاسم خان شکست وخوړ. بيا اورنګ زيب او مراد بخش چې صوبه دار د ګجرات وۀ په سمو ګړهـ باندې ئې سره يو ځائے اتفاق وکړ. قسمي شول. دارا شکوه خليل الله خان (۴) چې مير بخشي وۀ او رستم خان دکني او چهتر سال هاډه او برق انداز خان (۵) امرايان ئې د دواړو مخې ته ورستول رستم خان لوے مدبر امرا وۀ. شاهجهان بادشاه اګر چې کۀ بند د دارا شکوه د لاسه شۀ په بيمارى کښې ئې ځوکى پرې کښينولے اما دې رضامند په بادشاهى د داراشکوه وۀ. د رستم خان توره ئې په خپل لاس په ملا وتړله چې د دارا شاه دپاره نمک حلالي دې ما په ځائے راوړه. او خليل الله خان (۶) و دارا شاه سره په اتفاق وۀ. محض له بې دلى د دوې سره ئې هم مدارات کاوۀ. له هغه سره هم چې سوارې تياره شوه چهتر سال هاډه تـه ئې خواب راستوۀ چې ودريږده سره مصلحت وکړو. چهتر سال وپوهيد چې مصلحت د نامردى کا. ځواب ئې ورکړ چې اوس مصلحت د جنګ دے. ما خپل مصلحت پوخ کړے دے. تۀ خپل مصلحت پوخ کړه راځه. بيا رستم خان دارا شاه ته ورغے. ورته ئې عرض وکړ چې له هغه لوريه دواړه شاهزادګان توره دې بويه چې د دوې مقابلې ته خود تشريف وفرمائے. او کۀ نه دا نۀ ميسر کيږي بويه چې ما د فوځ سردار کړے. دارا شاه د خان د تلو عذر وکړ. د دۀ سردارې ئې پسنده کړه. تر دا ميان برق انداز خان بو الفضول خوشامد ګر ئې وۀ چې د دۀ احوال د قندهار په مهم چې د قندهار په تاريخ کښې معلوميږي چې بديع الزمان مهابت خاني کړے دے. مرزا جعفر ئې نوم وۀ. په عرض د دارا شاه ورسول چې اورنګ زيب دکني رستم خان دکني دا سره متفق دا ئې مکر دے چې ما د فوځ سردار کړه. دې تا فوځ به اورنګ زيب غوځ کا. ما سردار کړه نور ئې سردار کړ. رستم خان چې کور ته راغے د خپلې قبيلې د عالمو سره ئې بخښنه واخسته. ديو ورته ووې چې تۀ ولې دا هسې نااميدي کړے. مونږ لوے جنګونه کړي دي. چې قضا مو نۀ وه پاتو شو. دا به هم خير شي. دۀ ورته ووئيل چې ما د دارا شاه او د اورنګ زيب سره روزګار کړے دے اورنګ زيب په کار پخته دے دارا شاه خام فکر دے او په شرم ورسره کښيوتو خلاصے مو نشته. زمونږ اوس بغير له بې فائدې مرګه علاج نور نشته نور سور شۀ چې جنګ په سمو ګړهـ شروع [۱۹۰] شۀ خليل الله خان چې بخشي وۀ له ورايه ئې شا ورته کړه روان شۀ يو سيد چې سيد قطب نوميدۀ د دۀ جماعه دار وۀ هغه د خليل الله خان له فريبه خبر نۀ وۀ نارې ئې کړے چې دا چرته روان شوے اے نامرده، دۀ ورته ووې چې رادرومه. سيد ورته ځواب ورکړ چې مونږ دې جنګ ته راوستو اوس تېښتے تۀ. شرم نۀ لرے مونږ به کومه پوزه په هندوستان کښې ګرځوو. دا ئې

ووې نور ئې مخ په فوځ د اورنګ زیب د مراد بخش ونیو له جماعته سره څوک په لاره ترې پریوتل. دے راغے د اورنګ زیب د وړاندې پریووت اورنګ زیب وفرمائیل چې سپاهي دې ضائع نهٔ شي ژوندے ئې زخمي ونیو چې د اس داغ ئې وکوت عرض ئې وکړ چې دا د خلیل الله خان نوکر دے. اورنګ زیب ووئیل چې دا ضائع نهٔ شي. د خلیل الله خان بې صلاح راغلے دے. برق انداز خان هم شا ورته کړه وتښتی. چهتر سال رستم خان په میدان جنګ وکړ دواړه له فوځه سره ډوب شول. دارا شاه چې په اګره واوریدل تاب ئې پاتو نهٔ شهٔ. له اګره وتښتی (۱) اما شاهجهان ورته خواب وکړ چې تهٔ په شاهجهان آباد معطل وکړه. اورنګ زیب به دې ما لیدو ته راشي زهٔ به ئې مړ کړم. دا جنګ چې وشهٔ. مراد بخش اورنګ زیب سره قسم کړے وهٔ چې دواړه به اتفاق وکړو بادشاهي به له دارا شاه واخلو. زهٔ چې اورنګ زیب یم مکې لره به درومم تهٔ بادشاهي کوه دې ما خوړے چې محمود دے یا بهادر شاه (۲) دې تا وزیري دې کا. مراد بخش ئې کور ته وبالهٔ شراب ئې پرې وڅښنول بند ئې کړ. بیت:

فقیر کهٔ خیر دے چې بې تدبیر دے   په خزه بند شي له دې شامته

د دهٔ سپاه و حشم ئې درست په لاس کښیوت په اګره چې راغے شاهجهان لره ئې خواب واستوهٔ چې زهٔ به درخم تا به وینم. شاهجهان خلیل الله خان واستوهٔ چې را ئې وله چې ما ووینې. خلیل الله خان راغے حاضر شهٔ هغه رقعه چې شاهجهان په مرګ د اورنګزیب دارا شاه ته کښلے وه د چا په لاس کښیوته. اورنګ زیب لره ئې راوړه. دې وپوهید چې د شاهجهان نیت و ما ته بد دے. نور هغه رقعه خلیل الله خان ته ښکاره کړه چې دې ما نیت دا وهٔ چې بادشاه ووینم خلاص ئې کړم چې بیا بادشاهي کا. اما د دهٔ نیت له ما سره بد دے. اوس خلیل الله خانه تهٔ هم خپل کور راوله مهٔ دروه. سپهر شکوه (۳) جے سنګهه، دلیر خان چې شجاع ئې مات کړے وهٔ هغه څائے ناست وو په دا جنګ چې دارا شکوه وخوړ هغه هم بیدل شول. سپهر شکوه دلیر خان وبالهٔ چې اوس څهٔ مصلحت دے؟ دهٔ ورته ووئیل چې فوځ زمونږ سره ډیر دے کهٔ جے سنګهه رفاقت دې تا کا له اورنګ زیب سره به جنګ وکړو اما له جے سنګهه همت لاړ دے. ګوره رفاقت وکا یا نه. نور ئې جے سنګهه وبالهٔ. وې پوښتهٔ چې څهٔ مصلحت دے؟ هغهٔ ورته ووې چې اوس اورنګ زیب په حساب بادشاه شهٔ شاه شجاع شکست بیاموند مراد بخش ئې قید کړ. دارا شاه له اګرې وتښتی کهٔ دے په څائے قائم وے مونږ به جنګونه کول. چې دارا شاه بې پایٔ شهٔ اوس مونږ جنګ نهٔ شو کړے. دهٔ ووې چې دلیر خان دا هسې وائي؟ دهٔ ورته ووې چې زهٔ زمیندار یم دې ما ملک درومي دلیر خان سپاهي دے ملک نهٔ لري. بیا ئې دلیر خان وبالهٔ ورته ئې حال ووئیلو دهٔ ورته ووئیل چې ما خو وئیلي وو چې دے

خو بـه رفـاقت ونهٔ کا. اوس مصلحت دا دے چې تهٔ په پلار پسې درومه. نور ئې دې رخصت کـړ اول جے سنگهـ اورنگ زیب لره راغے بیا ئې فرمان دلیر خان لره راستوهٔ دے هم ورغے. واړه لـه اورنگ زیـب سـره شـول. [۱ ۹ ۱] دارا شـاه په لاهور راغے له لاهوره ئې نیت د کابل صـوبې ته وشـهٔ. یو سور ئې د نبنان سره خان علیین مکان خوشحال خان ته واستوهٔ چې کهٔ دې تا صلاح وي زهٔ به دغه لور ته درشم. د خان علیین مکان چې له دارا شکوه سره مخالفت وهٔ په سبب د بهاگو خان د جنبه داری چې پخوا د مندنړ ملک خان علیین مکان ته بادشاه په جاگیر پـه انعام ورکړے وهٔ د دهٔ په وسیله ئې تغیر کړ. او هوا خواهي ئې د بهاگو خان کړه. خواب ئې ورکـړ چې پـه دا لـور مـهٔ راځـه. زمیـندار د دې ملک مخالف دي په کار به دې را نهٔ شي. او بیـرې نـې د اټک واړه پـه خپل لاس کړے. بهاگو خان په اشارت د ذارا شاه اټک ته راغے. دے پـه اټک کښـې ناست وهٔ. فیرزو خان ترهٔ ئې پرې حکم کړ. ورپورې شهٔ. بهاگو خان ئې لـه اسه پریوست زخمي په څلور بولي د چا احدي کره ننه ووت خلاص شهٔ. سید خان وورور د دهٔ ئـې مـړ کـړ. د څـو کـسو سره بهاگو خان فرصت غنیمت وشمارهٔ لاړ خپل ملک لره. دارا شاه چې دا حال ولید له لاهوره ملتان لره لاړ شهٔ. له ملتانه ټټه (۱) بکر (۱ أ) لره ورغے. له هغه نـه گجرات کچهـ (۲) لـره لاړ. جسـونـت سنگهـ راجا چې جنگ په اوجین وکړ شکست ئې بیـاموند نور ورغے اورنگ زیب ئې ولید. اما په نفاق وهٔ. شاه شجاع له سپهر شکوه شکست مـونـدلے وهٔ بیـا ئـې خان جوړ کـړ. پـه اورنگ زیـب راغـے سبا چې به جنگ کیږي په شپه جسـونـت سـنگهـ د اورنگ زیب له لښکره ووت خبردار خبر اورنگ زیب لره راوړ. دے په تدبیر په استقلال درست وهٔ. وې وئیل چې جسونت سنگهـ ما چرته رخصت کړے دے (۳) په هـغـه شپه ئې سامان د جنگ وکړ سبا جنگ وشهٔ. د اورنگ زیب لښکر ډیر وهٔ د شجاع کم وهٔ چـې مـقـابـلـه وشوه نور لا تیر و تفنگ توپ نهٔ وهٔ خلاص شوے چې د اورنگ زیب لښکر مـات شهٔ. اما اورنگ زیب د خپل هاتي پښو ته زنځیرونه واچول له ځایه ونهٔ خوزیدهٔ. هر چې مـنـیـځ فوځ د دهٔ سره وهٔ دا هم نیمائي قائم پاتو شهٔ. نور دواړه لوریه لښکر شکست شهٔ. د شاه شـجـاع پـه میسره الله وردي خان مغل وهٔ هغهٔ ورته ووې چې له هاتي کوز شه په اس سور شه. غلیم مات شهٔ چې پسې درومو. دهٔ ناسرداري وکړه له هاتي کوز شهٔ. په لښکر غاؤ گډ شهٔ چې شاه شجاع پریووت رامات شهٔ. د اورنگ زیب فتح وشوه. (۴) جسونت سنگهـ چې په شپه له لښـکـره ووت پـس خانه ئې د اورنگ زیب ووهله. (۵) نـور لاړ د خپل وطن په څنگ کښې کښیـنـاسـت. دارا شـاه تـه ئې کبنل واستول چې ما له اورنگ زیبه دا سلوک وکړ. اوس هر چرته چې ئې معطل مهٔ کوه رادرومه. دارا شاه د دهٔ په کبنل راروان شهٔ. له گجراته اورنگ

زیب جسونت سنگهه ته وکښل چې دې تا څهٔ مقصود دے له ما سره؟ زهٔ اوس په حساب بادشاه شوم. وروڼه مې متفرق شول نهٔ راځي. توره اخلے کهٔ هغو دپاره کړے. څو هغه قائم وو تا خپل تلاش وکړ اوس لکه هغه هسې زهٔ یم. هر چې دې تا رضا هغه نیکي به درسره کړم. تهٔ خپل وطن ته درومه. ما او دارا شاه سره پریږده. دهٔ هم زبوني وکړه. کافر وهٔ (۲) نهٔ ئې د هغهٔ د بللـ فکر وکړ چې مې وبالهٔ زهٔ وطن لره لاړ شم هغه به په ډاکه لګي. نهٔ په دا پوهیدهٔ چې دا زمان د اورنګ زیب خپل مقصود دے په مونږ کښې تفرقه اچوي. روان شهٔ خپل وطن ته. دارا شاه چې راغے په خالي ډاک [۱۹۲] ولګید. کهٔ ئې هر څو تلاش وکړ چې جسونت سنگهه راشي اما ملګیري ئې ونهٔ کړه. اورنګ زیب لره وخوشیدهٔ. دلیر خان او جے سنگهه ئې دواړه هراول وو دارا شاه روان وو (۱) دره ئې د اجمیر شریف بند کړه. مورچې ئې ولګولے څو ورځې مورچه بندي وه. مصري خان خټک له خویه سره چې عنایت خان نومیدهٔ د دارا شاه سره قدیم نوکران وو. یو سه هزاري بل دو هزاري له خپلو مورچو راووتل. د اورنګ زیب د لښکر په میان به راغلهٔ عالم به ئې راضي کاوهٔ خپل لښکر ته به ئې بیول. اخر الامر دا مقدمه دلیر خان ته معلوم شوه. دلیر همت د بهادر خان خوے چې پخوا ئې ذکر شوے دے له دلیر خانه سره وهٔ ورته ئې ووې چې تهٔ ورسه مصري خان ونیسه. دلیر همت خپل عالم ورستاوهٔ. د مصري خان د دوي سره جنګ شروع شهٔ. دا جنګ زیات شهٔ. د دارا عالم په کومک د مصري خان راتهٔ. او د دلیر خان عالم په هراول د اورنګ زیب وهٔ. په کومک د خپل عالم ورته تر هسې حده چې سواري د دلیر خان تیاره شوه اورنګ زیب یو کروه کم و زیات وروستو میشت وهٔ. دلیر خان خواب ورستوهٔ چې دا هسې جنګ پیښ شهٔ کهٔ حکم وي زهٔ به نن دا مورچه د دارا شاه برهم کړم. دلیر خان سور ولاړ وهٔ. او فوځ ئې واړه سور شوے وهٔ. د بادشاه خواب ته انتظار وهٔ. دلیر همت په اس سور راغے دلیر خان ته ئې ووې چې ولاړ څهٔ ګورے انشاء الله تعالیٰ مونږ دا مورچه برهم کوؤ تهٔ روان شه. بادشاه ته به مجرئ دې تا وشي. دلیر خان په سبب د بادشاه د حکم تغافل کاوهٔ. خواب ئې نهٔ کاوهٔ. دلیر همت سخت ورته ووې چې غوږ دې په دا لور نهٔ دے چې زهٔ دا څهٔ وایم. تر دا میان د بادشاه سواري هم تیاره شوه. حکم دلیر خان ته راغے چې تاسو روانیږئ. زهٔ هم درغلم. په یوهٔ لور جے سنگهه روان شهٔ. برابر په مورچه ورغلهٔ. نقل کا چې تمامه مورچه تر یوهٔ غرهٔ بل غرهٔ د توپخانې له اوره سور اور شوه چې په آسمان به ئې لوخړې تلے او دلیر خان هم هاتیان په مخکښې کړي وو. قطارونه د سورو وریسې وو. ډیر عالم مړ شهٔ. اما په مورچه وختل ورننوتل بعضې پښتانهٔ وو چې په مورچه کښې د دارا شاه د لوریه ئې په خائے توري وهلے مړهٔ شول. نور عالم د مورچو

وتښ. دارا شاه هم وتښ. شاهنواز خان چې د دارا شاه نيوي وۀ په هاتي کښې سور ولاړ پاتو شۀ. دلير خان په خان په هاتي سور ورغے عذر ئې ورته وکړ چې خان سلامت په خوانانو دا هسې شي. زورور تر هر چا خدائے دے بنده په هر حال دے. دۀ ورته په غرور د بادشاهي بد وئيل چې تۀ و ماته عذر کوے نور دلير خان چې ترکښونه ئې په هوده کښې وو وې کيښ پرې ئې گزار وکړ له يوۀ غشيه فنا شۀ. نور ئې خپل هاتي ورنژدې کړ راوائ خست په خپل هوده کښې ئې واچوۀ. نور ئې پوښتنه وکړه چې په دا مرده ؤ کښې خبر واخلئ. چې يوسف خان دې ما ورور چې د دارا شاه سره وۀ شته او کۀ وتښ.؟ څوک راغے ظاهر ئې کړه چې مړ دے زړۀ ئې بنۀ شۀ وې وئيل چې شرم د سپاه گيرى او حق د نمک ئې په ځائے راوړ دې ما وسواس وۀ چې تښے به وې (۲) شرمولو لره .د شهنواز خان په مرگ د محل عالم ډير په فرياد شۀ اما بادشاه قبول نۀ کړ. پس له هغه جنگه دارا شکوه وتښ. جيونړ پنړي از راه کوته انديشي ونيو. اورنگ زيب لره ئې راوست. په دا نيول ئې د درست [۱۰۹۳] پښتانۀ نام د بدو کړ. پس له هغه بادشاه دلير خان او مير جمله د محمد امين خان پلار په شجاع پسې د بنگالې په لور تعين کړ. بيت :

تعين په شاه شجاع پسې دلير وۀ معظم وې ويوست له بنگه (۱) گوره چرته څکوې دم

په بنگاله چې په شجاع پسې ورغلۀ درياب تر ميان وۀ. دلير خان له خپله لښکره سره په درياب ورگډ شۀ. پورې شۀ. اما په دا پورې کيدل کښې ئې څوے د اغوستي اسبابه سره ډوب شۀ. په لښکر د شجاع ورغے مات ئې کړ. په وخت د شکست وائي چې شاه شجاع له څو سورو سره نژدې تيريدۀ چا دلير خان ته ووې چې کۀ حکم کړے ژوندے به ئې ونيسو. دۀ منع کړ. چې بادشاهان دې زمونږ له نيوو سره ئې څۀ دي. شا ئې ورته کړه ودريد څو شجاع تير شۀ نور پسې لاړل. تر آشام (۲) تر رخنگه (۳) ئې ورساوۀ. وائي چې په هسې ملک ورغے چې د هغه ملک رواج دا وۀ چې هر مال د دنيا به چې له مرده پاتو شۀ ورسره به ئې ښخاوۀ. دلير خان ته دا حال چا ووې نور ئې حکم وکړ. ډيرې خزانې د سپينو او د سرو د پښتنو په لاس کښيوتلے. نور له آشامه راوجاروت. چې بادشاه لره راغے. بادشاه د دکن صوبه دار کړ پنجهزارې يو کروړ دام انعام په ډير مراتب ئې رخصت کړ. چې ورغے د څانده او د ديو گړه راجا ياغي وۀ. دواړه ئې هسې خاک سياه کړۀ چې هيڅ حلاوت ئې ورپرې نۀ پښ. هغه د پلار دريا خان قصد ئې هم پکښې وۀ. خزانې ئې هم بې حده په لاس راغلے. اخر الامر بهادر شاه بادشاهزاده چې اوس بادشاه دے د دکن صوبه دار شۀ. جسونت سنگهـ او بهاؤ سنگهـ هاډه (۴) دواړو سره ورغے. دلير خان ئې ملازمت لره راغے. بهادر شاه جسونت سنگهـ سره

مصلحت وکړ چې دلیر خان ته درسره مل کړه یا ئې قید کړه. نور مونږ ورسره په بادشاه باندې توره اخلو چې په یوه کروه دلیر خان له لښکره سره راغے چې سبا به ملازمت کا. په شپه چا خبر کړ چې دا هسې مصلحت شوے دے. نور دهٔ پښتنه ډیرې واخستے روان شهٔ. بهادر شاه کوچ وکړ په نیر سیند باندې دلیر خان مقام وکړ. خپل زیاتې اسباب ئې وسهٔ اور ئې ډیرې پورې کړ. نور ئې خواب بهادر شاه ته واستوهٔ چې ته دې ما آقا زاده ئې په خائے کښینه دا چې درسره دې واړه راستوه کهٔ مې مات کړ یو څو ورځې روهیلي به پرې مارهٔ شي او کهٔ ماته ئې شکست راکړ دې تا مراد به پوره شي. بهادر شاه راجپوتانو ته ووئیل چې فکر ئې بویه. دوې ورته ووې چې کهٔ مونږ د دلیر خان د مهم نوم واخلو نوکران مو نوکرې پریږدي. زمونږ کار نشته. څو بهادر شاه بادشاه ته وکښل چې دلیر خان د څانده خزانه ډیره په لاس کښیوته له ما یاغي شهٔ. بادشاه په دا خبره ډیر دلګیر شهٔ. هم متردد شهٔ. فوج ئې د دلیر خان په قیلو باندې چې په وطن کښې په شاه آباد (۵) کښې وو تعین کړ. دا خبر منتشر شهٔ. شاهجهان پور د بهادر خان وطن هم ورته متصل دے. نور څوک د دلیر خان له عالمو کوروني عزیز خان د بهادر خان څوے چې په ایام شباب کښې په شاهجهان پور کښې وهٔ.

[۱۹۳] د دلیر خان مور چې ولي نعمته به ئې بلله څواب ئې ورستاوهٔ چې شرم د قبیله داری دے مغل په مونږ راغلے راورسه. عزیز خان ورغے ولي نعمتې خزانه د دهٔ په حواله کړه. دهٔ خائے په خائے پښتانهٔ راوبلل چې شرم و ننګ د پښتنو دے. ډیر عالم پښتون پرې جمع شهٔ. فوج بادشاهي چې ورغے پس پائ شهٔ. نور دلیر خان برهان پور ته راغے. راروان شهٔ. عرضداشت ئې بادشاه ته وکیښ چې زهٔ خانه زاد یم. اما په دا سبب له بهادر شاه نه جدا شوم لکه بیان شوے دے. اوس په حضور دروم. بادشاه ورته وکښل چې ته حضور لره مهٔ ردرومه. هر خائے چې ئې هم هغه خائے اوسه. بهادر خان کوکه چې په ګجرات صوبه دار وهٔ هغهٔ ته ئې وکښل چې دا هسې کار پیښ شهٔ. ته د دلیر خان ضامن ئې. دروم په هر شان چې شي دلاسه ئې کړه. او له خانه سره ئې ګجرات لره بوځه. ولې حضور لره ئې مهٔ پریږده چې راشي. ډیر وسواس ئې د حضور د راتلو د دلیر خان په خاطر رسیدهٔ. پس له هغه دلیر خان راغے په برهان پور کښې وزیر خان صوبه دار وهٔ. وزیر خان کره راغے تنها ورځ ئې تیره کړه. د بادشاه وسواس برطرفولو دپاره وزیر خان هم بادشاه ته په ښهٔ روش وکښل چې په دلیر خان کښې دا هرګز نشته. چې څوک افترا کا. نور په اوجین راغے بهادر خان له ګجراته په ارغال راغے چې د بهادر خان سره ئې لیدل په ډیر دروئ څان ورته ښکار کړ نور بهادر خان خیمې اسونه څو لکه روپۍ ډیر څهٔ ئې د دلیر خان تر نظره تیر کړهٔ چې دې تا ډیر مال سوے دے دا

مې زوئېدل. ډېر ئې دلاسه کړ. بادشاه د کچ صوبه دار کړ. کچ لره لاړ هورې ئې ښهٔ عمل وکړ. بيا بادشاه بهادر خان دلير خان دواړه د دکن صوبه دار کړهٔ ورغلهٔ. بيا څو کوټه ئې سيوا (۲) واخستل. ساليرموليرو (۳) وغيره. نور بهادر خان بادشاه تغير کړ. تمام دکن ئې پ دلير خان وسپارهٔ. دهٔ هم ډېر تلاشونه وکړهٔ. بادشاه ته ئې وکښل چې کهٔ حکم شي پ حيدرآباد باندې ورشم. حيدرآباد عليٰحده بادشاهي وه. بادشاه حکم ورکړ ډېر تالاش ئې وکړ په حيدرآباد باندې. اما پيښ نهٔ لاړ پستنه وجاروت. هرګاه چې عالمګير بادشاه په مه د حيدرآباد او بيجاپور اورنګ آباد ته ورغې بادشاه و صحرا ته ووت. د يوې ونې تر سيور لاندې سور ودريد تنها ئې دے وبالهٔ. مصلحت ئې ځنې وپوښتيدهٔ چې اوس فکر د دې مه کړے بويه. دهٔ په عرض ورسول چې درې لوريه دي د دکن يو حيدرآباد، يو بيجاپور يو د سيو په يوهٔ لور تهٔ خود متوجه شه. په يوهٔ لور بادشاهزاده کړه دريم لورے و ماته وسپاره. بادشا چې ډېرې ته راغې په موجب د دهٔ د صلاح په يوهٔ لور ئې اعظم شاه رخصت کړ په بل لور ئ پينځهٔ اسه دوه هاتيان سروپای نور هم څهٔ ورکړ. دوه لکه روپۍ. دے ئې رخصت کړ چې ل اورنګ آباده ئې کوچ وکړ اعظم شاه هم ورځنې اړولي وو په شپه دوه کروهه. په ه ساعت خبردارو خبر و عالمګير ته راوړهٔ چې اعظم شاه په شپه د دلير خان کره ورغے بادشا ډېر پرې بدګمان شهٔ. نور ئې دهٔ ته حکم واستوهٔ چې تهٔ له دغه ځايه کوچ مهٔ کوه. په دغ ځائے چې ډېره ئې هم دغه ځائے اوسه. سن و سال هم د دهٔ د پيرى (۴) وهٔ. [۱۰۹۵] پس له څ ورځو وفات شهٔ. **ذکر د بهادر خان خويشکي** (۱) وائي چې په عصر د جهانګير بادشا بهادر خان خويشکے چارهزاري صاحب نوبت وهٔ او سلطان پرويز پرې ډېر مهربان وهٔ. ت هسې حده چې بادشاه او بيګم دواړو خپلې ښځې تر پردې رابېرون کړے ورته ئې ووې چ ښځه د بيګم کهٔ دې ما مهينه ده؟ بهادر خان يو لاس په ښځه د بيګم او بل لاس په ښځه د بادشا کښېښو. وې وئيل چې دا مهينه ده. ګمان د دواړو دا رنګ وشهٔ. چې ښځه دې ما مهي ده. اخر پس له ډېر ردوبدله بهادر خان ووئيل چې په پلار په مور کښې څهٔ تفاوت وکړ بادشاه پرې ډېر مهربان شهٔ. نقل دے چې ملا جمال پلار د نظر بهادر وهٔ. هرګاه چې همايو بادشاه له ولايت متوجه په هندوستان شهٔ دے په دا شرط ورسره شهٔ چې ځلورمه بخره به هندوستان تاته درکړم. په دا شرط ئې فرمان وکړ. هغه فرمان اوس ورځخه شته. خويشکم چې مغل خانه زاد بولي سبب ئې دا دے. نقل دے چې نظر محمد بهادر خان منصبدار د سلطا پرويز (۳) وهٔ. خرم (۱۳) چې له بادشاه روئے ګردان شهٔ مهم ئې شروع شهٔ. نظر بهادر په نيو د خرم ډېره سعي وکړه خرم پوښتنه وکړه چې دا طفونه د چا دي؟ چې دا رنګ تلاش کا. چا

عـرض وکـړ چې دا طفونه د نظر بهادر دي. خرم ووې کۀ زۀ بادشاه شم دے به
نيږدم. حق تعالیٰ بادشاهي خرم ته ورکړه. په دا ميان کښې خانجهان لودي او بهلول
او دريـا خان داؤدزے لرې روګردان شول. په دا وخت نظر بهادر خرم ته راغے . يو زمان
. خـامـوش شـۀ. بنـائسته خان په عرض ورسول چې دا وخت د عتاب نۀ دے . پښتانۀ به خائے په
خائے هراسان شي. دوهزاري منصب ئې ورکړ. پورب ته ئې رخصت کړ. فتح ئې روزي شوه.
چارهزاري شۀ. رفته رفته پنجهزاري شۀ. (۴) او اعتماد ئې ډير پيدا کړ. او په عصر د جهانګير
او داورنګ زيب چار هزاري شمس الدين خان او چارهزاري قطب الدين خان وۀ. چې دا نقل
مشهـور دے چې پينځۀ زره کم يو لک اس ئې بخښلي وو او دوه جنګه ئې له لاسه واقع شوي
وو .او دواړه ځـايـه ئـې فتـح مـوندلے وه. يو صورت کښې ئې د جام راجا سره چې دوه ډيرش
راجګـان هـم د جـام سـره وو پـس له ډيره جنګه ئې جام مات کړ. مال متاع نقد جنس هاتيان
اسـرنـه د راجـا مذکور تالان شول. او دے په تمام هندوستان کښې سربلند او نامدار شۀ او بل
ئـې پـه ښهـر د اټک کښې په دولس سورو درست لښکر د مهدامي خان مات کړ. دا نقل هم
مشهـور دے او نـوبـت ئـې درې ځـايه واهۀ شۀ. يو د دۀ په حضور او بل په قصور (۵) او بل په
اورنګ آبـاد کښـې او بـل هـم پـه عـصر د اورنګ زيب احمد خان وۀ. چې اورنګ زيب له
ډيرې مهرباني خطاب د اخلاص خان ورکړے وۀ. چې هومره ديندار وۀ چې لمن د بادشاه په
نـمـانـځۀ د دۀ تر قدم لاندې شوه. بادشاه چې قيام ته پاڅيدۀ قدم دۀ هسک نۀ کړ هرګاه چې
بادشاه له نمانځۀ فارغ شۀ خطاب ئې د ديندار خان ورکړ او په جنګ کښې د دارا چهتر سال
راجا هم د دۀ په مخکښې پريووت. [۱۹۶] توپ ئې د چهتر سال هم و اورنګ زيب ته حاضر
کړ او بل مهابت خان له لښکر کوټه شکايت د ديندار خان و حضور ته وکيښ. بادشاه له ډيرې
مهـربـانـي مهابت خان ته وکښل چې ديندار خان په منزل د نيمے دے او نيمه چې له تنه بيارته
کـوے تـن بـرمـنـډيـرې او نـور هـفتصدي هزاري امراګان د خويشکي ډير دي واړه وکښل نۀ
شول. (۱) ذکـر د پُردل خان بړيڅي. چې امـرا د شاهجهان وۀ چې قندهار علي مردان
خـان و شاهجهان ورکړ. دولت خان بيټنے ئې د قندهار صوبه دار کړ او پردل خان ئې چې دو
هـزاري وۀ د دۀ سـره تـعينات کړ. د قلعې د بست (۲) ئـې قـلـعه دار کړ چې بست د قندهار د
تـوابعو نه يوه قلعه ده. د ايران بادشاه له اصفهانه په راښول د قندهار رارواں شۀ. چې په قندهار
راغـے کـمـک د شاهجهان له لوريه ونۀ رسيد. دولت خان امان وغوښت، قندهار ئې ورکړ بيا
شـاه ځـواب پردل خان لره ورستوۀ چې قندهار دولت خان راکړ تۀ هم اوس قلعه د بست (۱۲)
چې متابع د قندهار دے راته کړه. دۀ ځواب ورکړ چې هغۀ نمک حرامي وکړه. دا امانت د

ے. زۀ نوکر د بادشاه یم. ځو د خپل بادشاه حکم مې نۀ وي دا
شاه تمام لښکر پرې حکم کړ جنګونه ډېر وشول. عالم قتل
م قتل شول. تر هسې حده چې په قلعه دننه عالم ورننوت. دے
خپل ناموس ئې له خپله لاسه قتل کړل. هرزمان به ئې خواب
، امان وغواړه. دۀ هرګز قبول نۀ کړۀ. اخر شاه حکم وکړ چې
ئے. ژوندے ئې ونيسئ. جنګ ئې کاوۀ تر هسې حده چې دا
عـالـم چـې ورسـره وۀ واړه ومړ. هالۀ پرې لښکر هجوم راوړ. دے ئې په موجب د شاه د حکم ژونـدے راووسـت. پـخپـلـه ئـې حـضـور ته وبالۀ. چې ورغے په کين لاس ئې سلام وکړ. شاه وپوښتيد چې دا څۀ سبب دے چې په کين لاس دې سلام وکړ؟ ورته ئې ووئيل چې په هغه لاس مې خپل بادشاه ته سلام کړے بيا ئې څۀ لره بل ته په سر کوم. شاه ډېره مهرباني پرې وکړه. دا ئـې ووئيـل چې نقصان د بادشاه په تميز کښې وۀ چې دا هسې سړے د قلعه بست قلعه دار او د دولـت خـان غوندے سړے ئې د قندهار صوبه دار کړ. نور شاه له خانه سره ايران ته بوت. ډېر ئـې ورتـه ووې چې نـوکـر شـه. نـوکـرې ئې نۀ قبلوله. په لږ مدت په اصفهان کښې وفات شۀ فرزندان ئې شاه هندوستان ته رخصت کړ

ذکـر پـه بيـان د غوري او د خښي او کرلاني چې څۀ واقعات د نيک او بد تير شوي دي او بعضې تواريخ د خپل اولس او احوال د خانانو زمونږ، خپل سـر ګزشت بيانول.

نـقـل دے چـې اخون درويزه په خپل کتاب کښې چې تذکرة الابرار والاشرار دے راوړے دے چې شيربون [٣] نوميدۀ [٥] د قـنـدهار په لور پښتون وۀ. دوه ځويه ئـې وو يو کند بل خمند نوميدۀ. له کند نه دوه ځويه پيدا شول يو خښے دويم غورے. د غوري څـلـور ځـويـه پـيـدا شـول يو دولت يار چې مهمند او داؤدزي د دۀ له [١٩٧] نسله دي. دويم خـليل، دريم زيړانے څلورم څمکنے [١] چـې څلور واړه وروڼو يو مې حلال کړے وۀ. يو تر بله ئـې وويشـۀ دا يـو ورور چې څمکنے نوميدۀ دا ئې له شوربا له ويشه هير کړ. د دۀ ئې بخره ونۀ کـړه. دې آزرده شـۀ. د درې واړو وروڼـو لـه مـنـځـه جـدا شۀ. تر اوسه پورې ځنې جدا دے. متـفـرق په هر ځائے ميشت دے. زيړاني هم له وروڼو جدا شوي د ننګرهار په تاجک ماجک کښـې ميشـت دي. اکثر خلق چې ترې نه خبر نۀ دي ورته وائي چې تاجک دي. اما دوي ښۀ خلق [٢] دے. د خښي درې ځويه وو يو منډے دويم مک دريم ترک. وائي د خښي ارتينه وه مـرجانه نوميده چې منډے او مک د دې له نسه دي. او د مرجاني خور وه بسو نوميده چې بې ديانته وه، هغه هم راغله د خښي کره وسيده. لکه د پښتنو دستور دے ورپسې متيزه شوه. هغه

آوان کښې دینداري کمه وه له هغې نه ترک پیدا شۀ. تر کلانې د دۀ اولاد دے. تراوسه پورې پهٔدوې کښې متمیزې ډیرې کیږي. اما اوس دینداري لږي. د مک یوه لور ګګی نومیده خپل شپانۀ ته ئې وادۀ کړه. زیرکے نومیدۀ ګګیانې له هغې پیدا شۀ. د مک نور اولاد ونۀ شۀ. ګګیانې ئې بولي. (۳) او د مندي دوه خویه وو یو عمر بل یوسف. دا عمر ډیر مرد بادیانت وۀ ښهرونو ته لاړ یوه ښځه ئې د چا د هغه زمانې د ساداتو په نکاح کړه. یو خوږے ځني پیدا شۀ منډ (۴) نومیدۀ. دے هم (۵) په هغه ملک کښې وفات شۀ. پس له یوه مدته یوسف د دۀ وررور په طلب د دۀ د اهل و عیال ورغے چې راځ ولي. اما هغې ارتینې د دۀ سره تلل قبول نۀ کړل. ورته ئې ووئیل چې دې تاسو رسم دے چې د وررور ارتینه مال چې له وروره پاتو شي په زور ئې غصب کوي. دې ما رضا نۀ ده چې په یوۀ نکاح باندې د بل سړي نکاح ثابت پاتو شي. لکه په حدیث کښې راغلي دي. هره ښځه چې په یوه نکاح اکتفا وکا ثابته پاتو شي. فردا ئې قیامت به د واړو ښځو شفاعت کا او په ډیر عهد سوګند ئې راروانه کړه. او د یوسف پینځۀ خویه وو یو پکښې اوریا نومیدۀ از بس چې ډیر متکبر او مغرور وۀ. بادي به ئې بالۀ. اوس ئې هم اولاد ته بادي خیل وائي. دویم عیسیٰ. دریم موسیٰ چې د الیاس پلار وۀ. څلورم ملي پینځم اکو. نقل دے چې په هغه آوان په پښتنو کښې دا رسم هم وۀ چې خویه به ئې په حد د بلاغت ورسیدل د پلار د مور مال به ئې یو تر بله قسمت کړ پلار و مور ته به ئې هم بخره برابره کړه. القصه د یوسف خامنو چې مال سره ویشۀ مور ئې ورته ووئیل چې دې ما بخره هم بیله کانئ. هغه نور وروڼه ئې لا خاموش وو هغه بادي کم بخت و اندام نهاني ته اشارت وکړ چې دا واخله. مور ئې ورته بددعا وکړه چې دې تا اولاد تر دیارلسو کسو زیات مۀ شه. تراوسه ئې اولاد تر دیرلسو کسو نۀ زیاتیږي. یو څو کسه په چغرزیو کښې شته دے. د الیاس څلور خویه وو اول نسو بیا تاجے پلار د ګدائ. دریم سالار څلورم ممے ښښتن د عائشې چې اومر ئې عاشي زې بولي. [۱۹۸] د اکو شپږ خویه وو څلور له یوې ارتینې چې ګوهره نومیده. اول خواخو دویم بازید دریم ابا. څلورم شارک. او دوه ئې له بلې ارتینې وو. اول حلیم دویم اوتمان. د موسیٰ څلور خویه وو. دوه د یوې ارتینې چې ونی نومیده. اول دولت دویم چغر دوه ئې له بلې ارتینې نه وو چې نوري نومیده. یو ابا دویم ایسوړے. او د عیسي یوولس خویه وو. یوه ورځ د اسونو ګله د منډن مغلو په تاراج بوتله. عیسیٰ له نهو خویو سره پسې سور شۀ تر اولس وړاندې پسې ورغے. واړه د مغلو د لاسه شهید شول. مسئله ده چې په خپل مال پسې ومري شهید شي. له هغه جمله ۯ دوه خویه د دۀ باقي پاتو شول. یو حسن دویم یعقوب چې عیسي مړۀ ارتینه ئې حامله پاتو وه. خوږے ئې وشۀ. نوم ئې اکا کښیښن. د منډن څلور

خویه وو اول مامو، دویم خلر، دریم رخړ. څلورم منو (۱) القصه پښتنو ملک د قندهار یو تر
بله قسمت کړ. یوه حصه د ترینو (۲) په مینځ کښې د کند او د خمند (۳) واقع شوې وه یو تر
بـلـه د دوارو ورونـو حـمـایـت نـهٔ رسیدهٔ. په استوګه خښې و ترین ته نژدې وهٔ چې برخه ئې د
ارغسـان والـهٔ وه. او هغهٔ والهٔ نژدې و ترینو ته وه. د ترین او د خښي تر میان عداوت پیدا شهٔ.
تـریـن پرې غالب شهٔ. بعضې خښي ئې مرهٔ کړهٔ. بعضې ئې بې ځایه کړهٔ. هیڅ خمند او غوري
پـه جـمـایـت د دوي ونهٔ رسیدهٔ. اخر رجوع ئې و غوري ته وکړه. یوهٔ زمکه ئې و دوي ور کړه
چې نـابـوده وه. بود ئې هیڅ نهٔ وهٔ. وائي چې د قندهار په زمکه چې وخت د بهار شي هغه سابهٔ
وابـنـهٔ په زمکه وریږي. تر کاله پورې هغه ګیاه په زمکه رژیدلي مال مویشي ئې خوري. ساعت
پـرې تیـروي. او کـهٔ په دا میان کښې د پشکال باران پرې وشي هغه ګیاه واړه سیلاب یوسي.
او مـال مـویشي ته سختي پیښه شي. قضاً هغه کال باران د پشکال وشهٔ د غوري مال ته سختي
پیښه شوه. هغه زمکه چې و خښي ئې ور کړې وه په زور په جنګ په جدل ئې له خښي رانیوه.
خښـے لـه هغه ځایه بې ځایه شهٔ په یو بل ځائے راغـے پرې میشت شهٔ. چې هغه ځائے ته کاروان
تـکـے وائي بیـا هـسـې پـه حوادث راروان شول و کابل ته راغلل. اتمانخیل د تک د ګومل
لـوریـه د خښـي سره یو ځائے راغـے او همیشه به د خښي سره په حمایت په مدد مل وهٔ تراوس
پـورې. او مهمندزے له خمنده دے په یوهٔ سبب له خپلو ورونو آزرده شهٔ له خښي سره رارو
شهٔ تراوسه پورې روزګار ئې د خښي سره دے. اما خنې د دهٔ سره نیکي نهٔ کا. **ذکر په میا**
د راتـلل د خښي و پښاور ته په حادثات : چې یـو کال خښي فراغت په کابل کښ
تیـر کړهٔ دولت مندان شول. مال ئې ډیر شهٔ دا دستور دے چې په ښهٔ ملک دولت حاصلیږ
وائـي چې هـغه آوان کابل د مرزا الغ بیګ چې د امیر تیـمور له اولاده (۴) وهٔ د دهٔ پـه تصر
کښـې وهٔ. اخـون درویـزه چې شاهزاده علي قلي کښلے دے شاید خوے د مرزا الغ بیګ دے
دا مـقدمه چې پخوا د بابر بادشاه د راتللو له ولایت فرغانه نه. [۱۹۹] وه چې بابر بادشاه کاب
د ذوالـنـون ارغـون لـه خـویـه چې مـقیم ارغون نومیدهٔ راخست. او په خپل تصرف ئې را
پښتـانـهٔ دا مـلک د پښـاور واړه نیـولـے وهٔ ځائے په ځائے پرې میشت وو. هرګاه چې درس
خښـے و کـاهـل ته راغـے یو مدت ئې په کابل تیر شهٔ. مال مویشي ئې ډیر شهٔ فراغت ئې روز
شهٔ او پـه دولـت پـه فـراغت سره اولاد ډیریږي. خصوصاً یوسفزے او مندڼ ډیر شهٔ فساد
آغاز کړ. د کابل عالم به ئې ډیر ازاروهٔ. مالونه ئې رانیول. نامناسبه کارونه ئې کول نور پښت
بـه ئې په نظر کښې نهٔ راوړل. او له شاهزاده مرزا قلي بیګ نه به ئې ویره نهٔ کړه. هیڅ خجا
بـه ئې خنې نـهٔ کـاوهٔ. بـلـکې د دهٔ سرې بـه ئې هم ازارول. د دهٔ پـه دیوان خانـه کښې

کښېناستېدل. نالائقي خبري به ئې کړے. از راه ضرور ئې مرزا په دا پله راوست چې له دوي سره جنګ و جدل او دښمني وکا. يو څو ئې ځني مړهٔ کړهٔ. بعضې ئې تاخت کړهٔ. القصه چې پښتانهٔ فراري شول د کابل و غرونو ته ننوتل. په هغه آوان د پښتنو درې شيخان نامدار وو. دوه وررونه وو يو مداد دويم مدو وهٔ. دا دواړه د عيسي زي د قبيلې نه وو. بل شيخ عثمان مولي زي وهٔ. دا درست اولس مداد او مدو ته ټول شهٔ چې تاسي مونږ له غيبه خبره کاندئ چې د دې اولس به څهٔ حال شي؟ او تاسو له دې واقعې چې تيره شوه مونږ خبر نهٔ کړو چې فکر او سرانجام مو د خپل کار کړے وے. چې مونږ ته دا هومره نقصان پيښ مهٔ وے. دوي دواړو ورته ووئيل چې اول تاسو شيخ عثمان مولي زے مړ کانئ پس له هغه به مونږ خواب درکړو چې هميشه ئې له اولسه انعام اکرام موندهٔ ولې اولس ئې له دې واقعې نهٔ خبراوهٔ. يا د اولس نذر و نياز دهٔ ته ورواني يا مونږ ته اخر د شيخ عثمان په مرګ خبر شول. شيخ عثمان ورته ورې چې پخوا هم له دې واقعې اګاه وم اما لاس مې د خدائ په کړهٔ نهٔ رسيدهٔ اوس له دې به هم تاسو خبر کرم کهٔ ما نهٔ وژنئ. چې له مرګه ئې خلاصے بياموند ورته ئې ووئيل چې دې تاسو به له مرزا سره عظيم جنګ واقع شي. اما فتح به دې تاسو وي. مداد او مدو هم دا رنګ ورته ووئيل. اما د پياده ؤ سردار دې له مونږ نه يو وي. پس د جنګ په ورځ د پياده ؤ سردار هم له دوي وهٔ هم هغسي وشول. پس له هغه به پښتانهٔ له هغه غرهٔ راتلل رعايا به ئې تاخت و تراج کول. مرزا بله چار بې له صلحې نهٔ ليده. سرې ئې تر ميان کړهٔ راوې بلل. طعامونه او سروپايونه ئې ورکړهٔ. ورته ئې ووئيل چې دې ما کور هم دې تاسو دے. پښتانهٔ چې په عقل کښې ساده دي بلکې ډير نفساني دي په لږ سود مقصود د ډير بهبود تر شا کوي. ورځ په ورځ به کدخدايانو د اولس مرزا ته آمدورفت کاوهٔ. يوه ورځ انصوکسه ورغلل. همګي بې وسلې يو محمود د محمد چغرزي خوي يوه چړوکی په خپل پيزار کښې وړې وه. چې ورننوتل. د مرزا بدنيتي ئې وليده. هغهٔ دې نورو ته ووې چې کهٔ وايئ زهٔ به مرزا مړ کړم هغه تررو منع کړ چې حق د نمک ساتلے بويه. شايد چې مونږ سره به بد نهٔ کا. دا چغلي جنګا ګګياني کړې وه. چې دا هومره ډير به يو ځائے بيا نهٔ مومے. او له دوي به په نيکی خلاص [۲۰۰] نهٔ شے. دا وخت غنيمت وګڼه او واړه قتل کړه. دا واړه ئې ومړل يو يو ئې وژے په هغه وخت د ديو د لويو ملکانو سلطان شاه وهٔ د مرزا په خدمت کښې ئې عرض وکړ چې دوه التماسه آرزو لرم کهٔ قبول شي. مرزا ووئيل چې قبول دي. اول ئې دا ووې چې ورارهٔ دې ما ملک احمد دي له قيده خلاص شي بادشاه ئې خون معاف کا. بل دې د اولس بند د اطفال ونهٔ شي. بلکې پريږدي هر لور ته چې درومي. مرزا قبول کړه. مرزا ورته ووې چې دې ما

گمان دا وۀ چې تۀ به خپل سر غواړے. یا به سل دوه سوه کسه ځوانان نور غواړے. دۀ ورته ووې چې تر دیو وارو احمد بهتر دے. او چې دا هومره عزیزان مې مري زۀ به خپل سر په څۀ خلاصوم تر دې وارو اول زۀ بنۀ یم لکه گمان په ملک احمد باندې وۀ هسې کارونه د دۀ دلاسه وشول. القصه پس له هغه، هغه باقیمانده اولس د یوسفزیو بمع توابع و لواحق و ننگرهار ته راغلے تپه د ترکلانې په لمغان کښې متوطنه شوه. یو مدت په دا تیر شۀ. د یوسف زي د مهمندزي تر میانه عداوت پیدا شۀ. په موضع حصارک (۱) ئې یو تر بله عظیم جنگ وکړ اخر الامر فتح د یوسفزي شوه. اخر پس له یوۀ مدته یوسفزي له ننگرهار کوچ وکړ ننگرهار ئې و مهمندزي ته پرېښ. او تپه د گگیانې په باسول کښې پاتو شوه. (۲) یوسفزي بعضې عالم وائي چې باجوړ لره راغلل. یوحدود ئې د باجوړ ونیو. لږ ډیر جنگ ئې د باجوړ د عالمو سره وکړ یا ئې باجوړ خوښ نۀ شۀ یا ئې توان نۀ لیدۀ ځنې وجارووت په ملکانړی راغلل. د دلازاکو سره ئې په سفید سنگ جرگه وکړه. (۳) زمکه ئې وغوښته. دلازاکو زمکه ورکړه. پس له یوۀ مدته د یوسفزي د دلازاکه سره عدوات شۀ لکه پخوا ئې بیان شوے دے اما په قول د اخون درویزه یو روایت دا دے چې له دلازاک سره ئې جنگ وکړ. ډیر یوسفزي ومړ له هغۀ نه د یوسفزي اولس د تهترو د شلمان په غرۀ راغلل. (۴) له هغه نه ئې د دلازاک سره صلح وکړه. په حدود د پښاور ننه وتل. دلازاکو دوي سره ډیر لطف او احسان وکړ بعضې عالم وائي چې د خیبر په لار پښاور ته راننوتل. جوئے بربر ئې د شلمانیو وغوښت شلمانیو د دلازاکو په قوت منع کړۀ چې د دلازاکو الفت او برادري د شلمانیو سره وه. پخوا ئې پښاور نیولے وۀ. لکه ذکر ئې شوے دے. بیا اولس د یوسف زي کوچ وکړ دوآبې ته راغلل له دلازاکو نه جدا شول. بعضې دلازاک له یوسفزي سره عداوت راواخست. په هغه سبب طاقت ئې د پیښور د استوگې نۀ وۀ پس د یوۀ مدت ئې د اشنغر د شلمانیو سره عداوت وشۀ سره ئې جنگ وکړ. فتح یوسفزي بیاموندہ. جلو نام شلمانے چې سردار د سلمانیو وۀ هغه ئې مړ کړ. باقي اولس ئې له اشنغر وشارۀ و سواد (۵) ته لاړل. د سواد سلطان دوي لره ځائے ورکړ. په الله ډنډ باندې ئې واچول. نقل دے له اخون درویزه چې له دلو چغرزي (۶) نه ئې نقل کړے دے چې د جلو شلماني په مرگ زۀ حاضر وم چې سر ئې د دۀ پریکړ. هومره بوزه ئې ځنبلې وه چې د مری تر ونیو ئې بوزه ډیره راتویه شوه. نعوذ بالله من ذٰلک. یو مدت اولس د یوسفزي په اشنغر کښې متوطن شۀ.

راتلل د غوریاخیل له قندهاره : نقل کا [۲۰۱] چې په یوۀ سبب یا د هزارهٔ له میرځي تنگ شول یا د مغل د بدی د قندهار له ملکه متفرقه تپه په تپه راروان وو. په کابل په ننگرهار

نـم مـکـان ونيو چې جمعيت ئې وشهٔ خانه کوچ پيبنور لره راغلهٔ په پېښاور باندې دلازاک وو منلشه ئې سره وشوه د سلطان پورې په کلي چې اوس ئې هم عالم د جنگ ورې بولي جنگ ئـې سـره وکړ. دلازاکو شکست بیاموند څهٔ په تيغ مړهٔ شو بعضې ډير عالم د هزار خوانی نالې غـرق کـړ چې تيزندی کنده ئې بولي. د جنگ په وخت يوه پرچه د اورو راښکاره شوه باران پـسـرحد د نالې وشهٔ ناله راغله او که نه خپل قوت د اوبو د هغې نالې نشته. هسې نقل کا چې هغه زمان باران په هيڅ ځائے نهٔ وهٔ مگر په سرحد د هغه نالې سبحان الله بيت:

چو در لشکر دشمن آری رحيل به مرغان کشی فيل و اصحاب فيل

فتح له جانبه د دهٔ ده مدد له طرفه د دهٔ دے ونيلې دې حق تعالیٰ "و ما رميت اذ رميت و لکن الله رمیٰ" دلازاک لـه پـېښاوره بې پايه شهٔ تر سـند پورې شهٔ. په لنگر کوټ په سمه په کـلاپـانـی ئـې واړول. يـو مـدت پـه دا تيـر شـهٔ. بيـا د يوسفزي د دلاّزاک سـره ميرڅي شوه. يـوسفزي په درست خښې وگرزيدل ورسره ئې مل کړ د دلازاک سره ډير جنگونه وشول. له کـلاپـانـی ئې دلازاک بې پايه کـړل. نقل دے له اخون درويزه چې د دلازاک په هغه آوان په ميـره د لـنـگـر کـوټ استـو گه وه. د يوسفزي په اشنغر. په دا سبب چې دلازاک د لنگر کوټ گـډونواح ميره نيولے وه. چې به د يوسفزيو مال مويشي و ميرې ته په چراگاه ورغے تاخت او تـاراج بـه ئـې کـړ. کـهٔ څـوک بـه ئـې پـه سـود پـه سودا ورغے هم به ئې ازاروهٔ. هميشه به د دلازاک لـه لاسـه په تنگ وهٔ. ملک احمد مصلحت وکړ چې بويه رجوع و خښې ته وکړو اگر چې مهـمـنـدزي سره ئې يو تر بله وژلي وو اما چې دا ننواتې ورغلل شرط ئې د برادری د مـلکيری په ځائے راوړ. (١) اما گـگيانې ووئيل چې ملک د دوآبې دې ما. مهمندزي ووئيل چې ملک د اشنغر دې ما. يو تر کلانې ملکيري ورسره ونهٔ کړه. اتمان خيل ورسره د دلازاکو سـره پـه دا جـنگونو بنهٔ تردد ئې وکړ. (٢) وائي چې اتـمـانخيلو د غواړ ميښو څرمنې سازې کـړے وے د جـنـگ پـه وخت به ئې په مينځ کښې ورے چې غشيو به پرې کار نهٔ کاوهٔ. تمام خښـې د کـهو سره راوليښ د گدر (٣) پـه رود ئـې واړول. بـله ورځ دلازاک د لنگر کوټ په قـصـد د جـنگ راوتـل. جـنگ ئـې سـره يـو تـر بله وکړ د دلازاکو د لوريه به ډير د غشيو گـډارونـه کـيـدل ډير خښې ومړ. آخر په جنگ د تورو سره ورغلل. اول چې څوک د گدر د رونهٔ پـورې شـهٔ خـوے ئې د زنگې دلازاک مړ کړ. بشير خوے د علي اسمٰعيل زې وهٔ پس د هـغـهٔ يـوسف زيـو قـصـد د سـوات د اخستـو وشهٔ. پس د يوهٔ مدت ملک احمد او شيخ ملي مـصـلـحـت دا وکړ چې د سوات په لور خانه کوچ، کوچ کړے بويه. واړو په اتفاق سره کوچ وکړ د شاه کوټ د غابښې په خوا کښې ئې واړول. يو څو ورځې ئې هغه ځائے تيرې کړے.

سواتیو به شب و روز د هغه غابنې ځوکې درله او له نورو غابنيو نه غافل شول. يوه شپه يوسفزيو سره [۲۰۲] مصلحت وکړ ښځو ته ئې ووئيل چې سندرې آغازې کړئ او په خپلو سندرو کښې به ئې د خپلو مردانو صفت کاوهٔ. او د سواتيو به ئې ذم کاوهٔ. په دا مضمون چې سواتي خبردار شي سبا به ئې ورسره جنګ وي. سواتي هم وپوهيدل چې سبا به دوي جنګ په دا غابنې راوړي ما بقيه لښکر چې ئې وهٔ هغه ئې هم د شاه کوټ غابنې ته جمع کړ يوسفزيو په شپه يلغار وکړ د ملاکنډ په غابنې و سوات ته واوښتل. هره ورځ به ئې په سوات کښې جنګ کاوهٔ. په مينځ کښې ملک به ئې لاندې کاوهٔ تمام په دولس کاله کښې ئې درست سوات ونيو تالا شهٔ. د باجوړ په جنګ و جدل مشغول شول. تر هغه پورې چې هغه ملک ئې هم ونيو. نقل دے چې د تالاش په جنګ د کاټ ګلې په کلي برمزيد نوميدهٔ مندڼ وهٔ اس ئې په دښتهٔ وزغلاوهٔ. دولس نيم ګزه ئې تر کندې توپ کړ. د يوسف دښنه ئې په نيزه وواههٔ مړ ئې کړ. پس له هغه ښهٔ ښهٔ ملکونه د يوسفزيو په لاس کښيوتل. په فراغت په ارام ئې ساعت تيراوهٔ. اګر چې علم عالمان پکښې کم وو مګر په هر حال ئې په متابعت نبوي ﷺ کښې ګذران کاوهٔ. دوي هم الله تعالیٰ ښهٔ ساتل او بل ملکان او سرداران د دوي د بادشاهانو له ديوان خانې منع نهٔ وو آمدورفت به ئې کاوهٔ. لکه ملک احمد به اکثر له سواته و کابل ته ورغے هر خدمت به ئې کاوهٔ. تر هغه پورې چې نوبت د خانې په خان کجو راغے. بيا د يوسفزي د غوريه خيل سره په شيخ تپور (۱) عظيم جنګ وشهٔ. نقل دے چې دولس زره سوارهٔ د غوريه خيل په هغه آوان کښې وو. تير سو سوارهٔ ابلق سوار يو د خليل په تپه کښې وو په دا جنګ کښې اکثر پريوتل. نقل دے له اخون درويزه چې يوهٔ سوارهٔ په زيرېند باندې په هغه جنګ کښې دولس غشي لګ وو. د خليلو تپه په غوريه خيل کښې له هغه ورځې کم قوته پاتو شوه. وائي چې اکثر ومړل. د ښو کورونه هسې خالي شول چې ښځو ئې مريونه په سړو ونيول. يو نيم چې ځوک غوريه خيل ژوندي د يوسفزيو په لاس کښيوت. يوسفزيو د نامې دپاره په برغوليو خرڅ کړ. (۲) پس له هغه غرور او نخوت د يوسفزيو ډير شهٔ. دينونا مذهبونه مخالف پکښې پيدا شول. ځوک ملنګانو (۳) سره عيسائي (۱۳) شول. ځوک په مذهب د پير روښان شول چې پير تاريک ئې بولي. (۴)

ذکر مشتمل په احوال د پيرروښان او د دهٔ د اولاد چې په دا ملک د کابل د صوبې چې څهٔ نيک و بد د دهٔ د اولاد په سبب واقع شوي دي.

نقل دے له اخون درويزه نه چې په مخزن کښې ئې کښلے دے. (۵) چې عبدالله نوميدهٔ اورمړ وهٔ د کاني ګورم په اورمړو کښې علم او صلاحيت ئې ډير وهٔ او له اولاده د صالحانو وهٔ. (۶)

خوړے نې پیدا شۀ نوم ئې بایزید کښیښۀ. (۷) په علم ئې کښیناوۀ. تحصیل ئې وکړ. او په اطاعت په عبادت ئې جدوجهد وکړ. اما پس له هغه ئې چې څۀ نقد په لاس راغلل سمرقند ته په سوداګرۍ د اسونو روان شۀ. دوه اسونه ئې واخستل هندوستان ته روان شۀ په موضع د کالنجر ورغے. هورته ئې اتفاق د صحبت د ملا سلیمان [۲۰۳] سره پیښ شۀ. له هغۀ نه ئې علم تناسخ واورید عقیده ئې تناسخي شوه. چې بایزید له کالنجره روان شۀ و کاني ګورم ته راغے فساد ئې آغاز کړ. اما پلار دې دۀ چې عبدالله نومیدۀ ډیر دیندار بادیانت وۀ. بایزید ئې په سبب د فساد په چړې وواهۀ زخمي شۀ. نور بایزید له هغه ځایه و ننګرهار ته راغے. په مهمندو کښې نې د ملک سلطان احمد کره قرار او مسکن ونیو. یو مدت ئې دورته تیر کړ اما ننګرهاري توابع د عالمانو وو اطاعت او پیروي ئې د دۀ قبوله نۀ کړه. له هغه ځایه بایزید راروان شۀ. پښاور ته راغے په غوریه خیلو کښې ئې قرار ونیو. هرګاه چې په پښتنو کښې په هغه وخت علم کم وۀ اکثر تابع د دۀ شول. او دۀ خپل شهرت په پیرۍ او پیشوایي کړے وۀ. اوعوام الناس ته به ئې وې چې بې پیره کامله و خدایٔ ته لار نشته. راځئ زۀ پیر کامل یم چې هدایت او رهنمائي درته وکړم. پښتانۀ ئې په سبب د کم علمۍ په دا فریفته کړۀ. په دا خبر نۀ وو چې په تفسیر بیضاوي کښې ئې راوړې دي چې لویه وسیله د خدایٔ د معرفت اختیارول د طاعت او عبادت او ترک د عصیان او د ګناه دے. او بې له استقامته د شریعت غرا او ملت بیضا و خدائے ته لار نشته. بیت:

محال است سعدی که راه صفا — توان رفت جز در پے مصطفیٰ

څو رسالې دۀ په هغه وخت تصنیف کړے. آیت او علم حدیث دواړه ئې خپل سندونه کړي وو. اما په هغه وخت علما نۀ وو چې د دۀ سره ئې مباحثه علمي کړے وے. چې آیت او حدیث په موقع دے یا غیر موقع دے. هر چې دۀ وئیل مریدانو ئې هغه کړل. اخر الامر تپه د خلیل د دۀ مریدان شول. (۱) بیا مهمندزي د اشنغر ورغلل دے ئې و اشنغر ته راوست. هر چې په پښتانۀ کښې جاهل تر هغه د دۀ معتقد وۀ. د اشنغر په کله ډیر کښې ئې ځائے ورکړ (۲) په هر لور د هغه وخت و علماؤ ته خواب و سوال وۀ چې راځئ زۀ پیر کامل یم تاسو به په مراتب اعلیٰ ورسوم. خان ئې په پیر روښان ملقب کړ. شاید په هغه وخت اخون درویزه چې په هغه وخت لوئے ملا هم دے وۀ راغے مباحثه ئې ورسره وکړه. اما په هغه وخت غلبه د حکام هم په دا ملک نۀ وه. معامله ئې سره فیصله نۀ شوه. دا دستور دے چې په هغه ملک کښې چې د حاکم زور نۀ وي هیڅ معامله ئې انفعال ته نۀ رسي. ابیات:

چې عزت د عالمانو پکښې نۀ وي — هغه ملک فسق و فساد شي

چې حرمت د درویشانو پکښې نهٔ وي　　هغه ملک به بلا یاد شي
چې خالي شي د حکمت له سیاسته　　په غه ملک پیدا عناد شي
چې خلل د خیل خانې په منځ کښې پاڅي　　کهٔ دولت ئې د بادشاه وي هم برباد شي

لس شل جاهلان په یوهٔ پسې لس شل په بل پسې. نهٔ دا د هغهٔ دفع کوي نهٔ هغه د دهٔ دفع کوي. دنیا کارخانهٔ الٰهي ده. هر سړے چې یو کار ته ملا وتړي له مددګارو به خالي نهٔ وي. اما تقویت او استحکام د هر کار په زور موقوف دے. لکه چې اول آیت "لکم دینکم ولی دین" راغلے وهٔ بیا ورپسې "اقتلو المشرکین کافة" راغے. (۳) القصه دا حقیقت په سمع د محسن خان چې د کابل صوبه دار وهٔ او په کابل کښې د اکبر بادشاه د لوریه وهٔ ورسید. له کابله ئې یلغار وکړ دست بسته ئې له اشنغره و کابل ته بوت. څو مدت په قید وهٔ. بیا خلاص شهٔ چې له کابله راغے و اشنغر ته یاران او مریدان ئې [۲۰۴] جمع کړهٔ. د توتې په غرهٔ ننوت. (۱) بیا له توتې و تیراه ته راغے. آفریدي، اورکزي دا عالم ئې همه مرید شهٔ. داعیه ئې د مغل سره د بدی وشوه. وئیل به ئې چې مغل ظلم پیشه دي. په دا پښتنو باندې ظلم تر حده زیات کا. په هغه آوان په تیراه کښې ډیر اولس وهٔ. اتمانخیل هم په څنګ و څټ ورته میشتهٔ وهٔ. اول په چوره (۲) راغے. په هغه وخت وسله په هغه عالم کمه وه. د چورې دورمې په سختۍ مشهورې دي. مریدانو ته ئې ووئیل چې دا درومې پرې کوئ. سرونه ئې تیروئ. جنګ ئې وکړ د مغل سره. نقل کا چې هغو درومو به د نیزو کار کاوهٔ. تیراهي عالم شاید ظاهر د دهٔ سره وهٔ او باطن ئې د مغل سره رویه درسته وه. هغو ته ئې ووئیل چې تاسو په باطن د مغل سره یاستئ. دې ما له طریقې مردود الطریقه شوئ. اوس بویه چې دواړه لاسونه پخپله وتړئ راشئ. چې دې تاسو توبه هم دغه ده. هغو یا له اعتقاده چې په دهٔ ئې وهٔ یا له ویرې تیر سو کسو لاسونه وتړل ورلړه راغلل. تیر سو واړه ئې جدا جدا مړهٔ کړل. یو د بل خبر نهٔ شول. هغه باقي ئې تاراج کړل. تیراه ئې له تیراهي خالي کړ آفریدي اورکزي ونیو بیا اتمانخیل د افریدیو سره دښمني وکړه. اتمانخیل کمزورے شهٔ تیراه ئې پریښ و آفریدي ته، اړنګ برنګ ته د باجوړ لاړ شهٔ. (۳) هورې ئې خائے ونیو. پیر روښان هغه خلق آفریدي اورکزي واړه مرید کړ. کتاب ئې خپل خیرالبیان کړے دے. د دهٔ په مریدانو کښې شهرت لري په تبرک ئې ساتي. الغرض آفریدي، اورکزي تمام مطیع او فرمانبردار شهٔ. بیا ئې لښکر جمع کړ په ننګرهار ورغے ډیر کلي ئې تاخت و تاراج کړ په هغه غرهٔ کښې ئې استقامت ونیوهٔ. محسن خان له جلال آباده تاخت پرې وکړ. سره ئې جنګ وکړ. په قول د اخون درویزه د پیر روښان عالمو شکست بیاموند. څهٔ ئې ترې مړهٔ کړهٔ څهٔ ترې په غرهٔ وختل. له هغه نه بیا و اشنغر ته راغے. بیمار شهٔ ومړ. په

اشنغر کښې ئې کښېښې. (۳) د دهٔ پینځ
الـدین ځلوم کمال الدین پینځم جلال الدین
د دهٔ مریدان او یاران وو په اعتقاد خاص په
سره ئې مخالفت پیدا شهٔ. یوسفزي پرې ج
یارانو سره مړ کړ. د دهٔ تن ئې په اور کښې
نو الدین له هغهٔ راوتښی. په اشنغر کښې
کښیوت. پس له هغه اکبر بادشاه خبر شهٔ. جلال
د بنده خلاصه کړه. پس د یوهٔ مدته د اکبر ب
رهزنی ئې اختیار کړه. بیا کمال الدین د اکبر ب
ش. بیا جلال الدین د هزاره ؤ د لاسه په غزني
بادشاه ته ورستوهٔ. بیا احداد چې د پیر روښان نه ... ر حوے په ځائے د هغو
کښیناست. [۲۰۵] په یوسفزیو کښې ئې قرار ونیو. دینونه مذهبونه هم پکښې مختلف گډ
شول. ډیرې ناهمواری ئې په لاس واخستے. رهزني مردم آزاري ئې اختیار کړه. بیت:

تا دل خلق خدا ناید بدرد — هیچ قوے را خدا رسوا نه کرد

نقل دے له اخون درویزه چې اکبر بادشاه له هندوستانه و کشمیر ته روان شهٔ. د یوسفزي ملاحظه ئې په خاطر کښې وه. په دا وخت میان عیسیٰ و سردارانو ته د یوسفزیو و کښل چې ک صراح کتاب د ملا شاه خاني سواتي له کتابخانې نه ما لره راستوئ دا ملک به دې تاسو د اکبر بادشاه نه خلاص کړم. یوسفزیو هغه کتاب په زور په ډیر اکراه له ملا فیض الله واخست ورنې ستوهٔ. اخون درویزه وائي چې ما ورته‌ووې چې دا کتاب په تاسو کښې برکت وهٔ. دا مو ډیر بد و کړهٔ. چې له دې عالمه مو غضب کړهٔ ور مو ستوهٔ. په دا شومی به تاسو خراب شئ. اخرالامر الله تعالیٰ قحط په دوي نازل کړ په غضب ئې د بادشاه گرفتار کړل. تر هسې حده قحط پرې نازل شهٔ چې سمه بونیر دواړه ځنې خالي شول. واړه و سوات ته تول شول. نقل دے له اخون درویزه نه چې په سوات کښې به هره ورځ هومره مردگان کیدل چې چا ښخولے نهٔشول. مرداره چې به ئې بیاموندہ لکه حلال هسې به ئې خوړه. بلکې غوښې به ئې د مرده گنو خوړے. چې دا به ئې نهٔ موندل نور به مړل. نر ښځې ئې سره جدا شول. لوئے هلک ئې سره بیل شول. یو تر بله ئې له لوږې سره هلکان پټ کړل بل ځائے به ئې خرڅول. مالونه به ئې سره پټول خوړل به ئې. تر هسې حده چې تمام ملک د دوي له دسته ووت. په طبقات اکري کښې ئې راوړي دي چې په ورځ د شنبې شپږم د جمادي الثاني سن د هجرت زر وهٔ

چې جلال الدين چې په تيښت و عبدالله خان اوزبک ته لاړ
او د فتنې آغاز کړ. رهزني او قطاع الطريقي کا. په ورځ د نوروز
ښې وه رخصت کړ. په اتفاق د محمد قاسم خان چې حاکم د کابل وه
دين وکا. په آخر شعبان په سن مذکور زين خان کوکه ئې په آباداني د سوات
ړ او په استيصال او تنبيه د پښتنو او په وهل د جلال الدين رخصت کړ. زين خان د
ړ په لارې د هندو راج په غاښې باجوړ لره راغے. تانه ئې په باجوړ کښې پريښوه. نور و
سوات ته د ترئ په لار روان شهٔ. يوسفزيو ترئ ورته ونيوه يو څو مدت په دا تير شهٔ. چا ورته
ووئيل چې د اختر په ورځ به دوي کور ته لاړ شي يورش وکړه تير شهٔ. د اختر په ورځ
يوسفزي اکثر کور ته لاړل. زين خان فرصت غنيمت وګاڼهٔ هله ئې بېرې وکړه و سوات ته تير
شهٔ. سوات ئې ونيو. ډير بند زندان تاراج د يوسفزيو پکښې وشهٔ. مغلو قلعه د دمغار سازه
کړه. هر لور ته به ئې په يوسفزيو تاختونه کړهٔ. بند به ئې راوستل او برده کول به ئ. نقل دے
له اخون درويزه نه چې زهٔ هم يوسفزيو سره په سردرو د سوات لاړم. په هغه ځائے راباندې په
شپه هسې ږلې او باران ووريدهٔ چې سبا پورې مو اميد د زندګاني نهٔ وهٔ. اخرالامر پس له
ډيرې سختي او هلاکت مغل ته ئې رجوع راوړه. مغل يکبارګي و اشنغر و[۲۰۲] پښاور ته
راکوز کړل. په ګګياني په مهمندزي په غوريه خيل ځائے په ځائے ئې متفرق کړل. هسې حال
ورپيښ شهٔ چې خدائے تعالیٰ دې دا حال و مسلمان ته پيښ نهٔ کا. اما محمد خان دپاره (۱)
جمعيت د اولس سره د هندوراج په غرهٔ مخ ونيو. د پنج کوړې د سيند په غاړه چې کفار وو
هغه لور به ئې خالي کاوهٔ. وړاندې به تهٔ. مطلب ئې دا وهٔ چې و کاشغر ته ووځم هغه هم د
کفارو د لاسه شهيد شهٔ. بيا هغه اولس غازي خان مولې زے په خپل سر بادشاه ونيو. هغه هم د
کفارو د لاسه شهيد شهٔ. هغه عالم د زين خان په لاس کښيوت خانه کوچ ئې و پيښور ته
راوستل. يوه والهٔ ئې د پيښور په والو کښې دوي ته ورکړه. د کر د کيلې طاقت ئې هم نهٔ وهٔ
او نهٔ ئې طاقت د قلبې وهٔ. اولس هم ورسره تفرقه وهٔ معلوم شول چې د بد افعالانو او د بدو د
صحبتونو دا نتيجه وررسيده. اخرالامر د خپلو بدو افعالو نه تائب شول. د مغل په صلاح
سره ئې ملک د سمې ونيو. ورځ په ورځ ئې اولس جمع کيدهٔ يو مدت ئې په ارام په سمه
کښې زيست کاوهٔ. مال واجبي به ئې د بادشاه ورکاوهٔ. هغه آوان کښې زر روپۍ واجبي د
يوسفزي وې. پينځهٔ تورې يا شپږ تورې به د کالهٔ په سر يا د قلبې په سر موافق د قسمت به په
دوي ورتلے. او ملک د سوات د بنير په دا کشمکش کښې د مغل د متفرق عالم په لاس
کښيوت. لکه سمه چې د آب سيند په غاړه ده دلازاکو ونيوه. سوات سواتيو بنير او چمله

بنير والو او چمله والو ونيوه. او باجوړ ننګرهاريو ونيو. زين خان چې د سوات له بندوبسته خاطر جمع کړ. تانې ئې خانئ په خانئ کښينولے دے په حضور د اکبر بادشاه ورغے. نقل دے له اخون درويزه چې دا واړه په هغه آوان په اعتقاد سنيه کښې نهٔ وو. علماؤ چې به چا ته نصيحت کاوهٔ بد به ئې منل. بعضې علما تابع د دوي شول. بعضې خاموش شول. بې يوهٔ ما چې نصيحت مې به و هر چا ته کاوهٔ. يوه ورځ مې د يو سواتي سره بحث وشهٔ راته ئې ووې چې سوات مې درخنې رانيو. ما ورته ووې له ما دې نهٔ دے اخستے. له يوسفزيو دې واخست. په هغه وخت چې يوسفزي فرمانبردار او متابع د دين محمدي وو بابر غوندې بادشاه په دوي راغے. بې د يوهٔ د شاه منصور (٢) لُور چې په وادهٔ ئې يوړه نور ئې هيڅ خنې يو نهٔ وړ چې ستلسې به لاړې شول دا حال ورپېښ شهٔ. زر دې چې تاسو هم خراب شې. پس له هغه مقدمه د ببر بادشاه دا رنګ وه. چې په ورځ د دوشنبې غره د محرم سن د هجرت انصو پينځهٔ ويشت وهٔ. څوارلسم کال د بابر د کابل د فتح وهٔ چې په تسخير د باجوړ (٣) راغے چې په جندول (٣) راغے نيمه ګړی عظيمه زلزله واقع شوه. سبا ئې کوچ وکړ چې قلعه د باجوړ فتح کا نږدې ئې و قلعه ته واړول. سرداران د دلازاکو ئې و باجوړ ته واستول چې و سردار ته د باجوړيو ووائي چې اطاعت دې د بابر قبول کا او قلعه دې د دهٔ په عالم وسپارې. هرګاه چې ملکان د دلازاکو ورغلل حقيقت ئې ورته ظاهر کړ. دوي اطاعت د بابر قبول نهٔ کړ. سخت خوابونه ئې ورته راستول. بابر حکم وکړ چې لښکر دې متوجه په اخستل د قلعې شي. په ورځ د پنجشنبې څلورم د محرم سن مذکور لښکر باعث په جنګ شهٔ. کم و بيش دوه سوه پياده له قلعې [٢٠٧] نه جنګ ته راووتل جنګ ئې په قدر د خپل استعداد وکړ اما تاب ئې را نهٔ وړ. هغه ورځ شپيتهٔ اويا کسه باجوړي په توپک ومړل. شپه شوه. د بابر لښکر خانئ په خانے قرار ونيو. سبا د وخته په ورځ د جمعې پينځم د محرم حکم ئې وکړ. نغاره ئې وکړه. لښکر متوجه په قلعه شهٔ. جنګ ئې آغاز کړ. رفته رفته قلعې ته ورغلل. قلعه ئې ماته کړه فتحه ئې وکړه. په دا مينځ کښې ډير زدوبرد قتل و کشتن وشهٔ. باجوړي ډير ومړل قتل عام وشهٔ. اهل و عيال ئې مغلو بند کړهٔ. تخميناً تر زرو کسو زيات ومړل. پس له فتح ئې قلعه په خواجه کلان وسپارله. خواجه کلان شايد د دهٔ يار وفادار مصاحب وهٔ. کومک ئې هم خواجه کلان ته بريښ. سبا ئې کوچ وکړ په چشمه ئې د باباقرا واړول. څو بنديان باجوړي چې ور سره وو په سفارش ئې د خواجه کلان له اهل و عياله سره آزاد کړهٔ. بعضې سرداران چې سرکښ وو او په لاس ئې راغلي وو مړهٔ ئې کړهٔ. سرونه ئې د دوي په خبر د فتح و کابل او قندهار او بدخشان ته واستول. او فتح نامې ئې هم د سرونو سره واستولے. په دا ورځو کښې شاه

منصور یوسفزي له یوسفزیو ورته راغلی وه. په دا قتل عام کښې حاضر وه. سروپای ور کړ. فرمانونه ئې د سیاست و یوسفزیو ته وکښل شاه منصور ته ئې ور کړه. رخصت ئې کړ. له مهمه ئې د باجوړ خاطر جمع کړ په ورځ د سه شنبې اتم د محرم سن د هجرت مذکور په خوا کښې ئې د ترئ کله منار ساز کړ. په یوه بلند ځائې په ورځ د چارشنبې په لسم د محرم په طریق د سیر سور شه و قلعې ته د باجوړ راغې. د خواجه کلان کره مجلس د شراهو اوبو ترتیب شه. کافرالو د باجوړ د نواحي څو خیگه شراب راوړي وو. شراب او میوه باجوړ ته اکثر له کافرستانه راځي. شپه ئې هورته تیره کړه. سبا ته ئې کوچ وکړ په رود ئې د جندول واړول. حکم ئې وکړ هر چې کومک تعینات د باجوړ دي رخصت دې شي. په ورځ د یک شنبې څوارلسم د محرم خواجه کلان ته ئې طغ عنایت کړ. باجوړ ته ئې رخصت کړ. پس له دوه درې ورځو ئې دا قطعه و خواجه کلان ته وکښه. قطعه:

قرار و عهد بیاراں چنین نبود مرا	ز یار هجر مرا کرد بیقرار آخر
به عشوه هائے زمانه چه چاره سازد کس	بجور کرد جدا یار را ز یار اخر

په ورځ د چار شنبې اولسم د محرم سلطان علاؤ الدین سواتي چې مدعي او معارض د سلطان ویس سواتي وه راغې ملازمت ئې د بابر وکړ. په ورځ د پنجشنبې اتلسم د محرم په ښکار روان شه. پنجکوړې څخه ئې واړول. په دا منزل اتفاقاً ډیرې واوړې پرې ووریدې. په اتفاق د سلطان ویس سواتي د کهراج په عالمو ئې څلور زره خرواره شولې مقررې کړې. په تحصیل ئې د دې غلې سلطان ویس سواتې تعین کړ. عالم روستائي کوهي وه. دا کار ورته دشوار ښکاره شه. ځایونه ئې پریښول ویراني ئې وکړه. تار په تار شول. په ورځ د سه شنبې درویشتم د محرم لښکر ئې تعین کړ چې تاخت د پنجکوړې وکا. عالم د پنجکوړې وتښتید. مال مویشي غله ئې تاراج شوه. په دا میان کښې [۲۰۸] شاه منصور خوږي د ملک سلیمان یوسفزي په طریق د دولت خواهی ورته راغې. از راه مصلحت او بندوبست د یوسفزي لور د شاه منصور بابر خان ته وغوښته. (۱) په اتویشتم د محرم د درې له کهراجه راووت. په دا میان کښې کشر ورور د شاه منصور هم ورته راغې. (۲) او بهنسوټ (۳) ئې هم په استحکام د باجوړ د قلعې خانه کوچ باجوړ ته روان کړه. په ورځ د جمعې دریم د صفر په هغه ځائې ئې چې سیند د باجوړ او د پنجکوړې جمع کیږي واړول. له دې منزله بیا باجوړ ته روان شه. په ورځ د سه شنبې په اووم د صفر خپل امراګان او سرداران د دلازاکو ئې مصلحت ته وبلل. قرارداد په دا وشه چې اوس وخت د فصل تیر دې. سال آئنده به په هسې وخت راشو چې فصل ئې لاندې کړو چې فکر ئې براصل وشي. تور ئې د شاه منصور تر خپلو راجاروتو چې

سال آئنده ئې قرارداد کړے وۀ په باجوړ کښې پرېښوۀ. سبا ئې کوچ وکړ. تر خواجه خضر تېر شۀ ډېره ئې ونيوه. بيا ئې کوچ وکړ تر بهيره (۴) راتېر شۀ. نمازديگر ئې په بانړه پالي واړول. له هغه کاتلنگ ته راغے. له هغه نه په شهباز گړهه راغے. قبر د شهباز قلندر په بلند ځائے وۀ چا ورته ووې چې دے ملحد وۀ لکه زمکه هسې ئې هوار کړ. سبا ئې کوچ وکړ په مقاد (۵) ئې ډېره ونيوه. القصه بابر له باجوړه په قصد د هندوستان د يورش راوجاروو ت او دا يورش د دۀ مدام په خاطر وۀ. اما په سبب د بعضې موانع ورته نۀ ميسر کېدۀ. په مقام باندې چې ډېره شۀ بعضو دولت خواهانو ورته ووې چې بعضې لښکر په کابل بعضې په باجوړ ځۀ په لغمان پاتو شۀ. نن ورځ دا يورش مناسب نۀ دے. ليکن بابر په دا خبرو اگر چې مصلحت پلوې وے نظر ونۀ کړ. کوچ ئې په طرف د آب سيند وکړ په گودر د نيلاب راغے پورې شۀ کوچ په کوچ بهيرې ته لاړ. عمل ئې په بهيرې په خوشاب (۶) په دغه نواحي جاري کړ. نور ئې بيا په لور د کابل کوچ وکړ. د نيلاب په لور راغے. تر گزره د نيلاب ئې واړول کشتی ئې د نيلاب لاهو کړه. راپورې شۀ. د آب سيند د غاړې نه چې ئې کوچ وکړ ناگاه مزرے پيدا شۀ اوازئې وکړ زلزله په اسونو گډه شوه. لور د لوره په غشيو په تورو په نيزو وواهۀ بابر خود هم يو غشے وويشت په سينه گډ شۀ له سينده ئې راوکيښ پوست ئې وکيښ له هغه ئې کوچ وکړ. باگرام يعنې پښاور ته راغے. د گورگهتړی ننداره ئې وکړه. شپږ کسه سرداران د دلازکو ورسره وو و هر يوۀ ته ئې صل صل مثقاله سپين زر يوه ميښه چې سوغات د هندوستان دے ورکړه. چې په علي مسجد ورغے معروف نوميدۀ دلازاک وۀ او يعقوب خيل وۀ لس ميونه لس خرواره وريژې اتۀ اوښان د بابر تر نظره ئې تېر کړۀ. الغرض په کابل داخل شۀ. په دا اوان شاه منصور يوسفزے د بابر سخر له سواته د پينځو شپږو کدخدايانو سره له يوسفزيو ورغے بابر ئې په کابل وليد واړو ته ئې خلعتونه ورکړل. شاه منصور ته ئې تکمه داره جامه ورکړه، نورو ته بې تکمې. او دا ئې ورسره مقرر کړۀ چې تر ابوهې د پاسه په سوات دخل مۀ کانئ او هر چې تر ابوهې راکوز دے و دې ملک اختيار ستاسې. بل رعايا له ميانه راوباسئ. بل هر چې پښتانۀ په گردونواح د باجوړ استوگه لري او ملک د باجوړ کري شپږ زره[۹ ۰ ۲] خرواره شولې دې په سرکار د بادشاه داخلوي. سن اتصو نۀ نوي وۀ (۱) بابر د دولسو کالو وۀ (۲) ولايت ئې د فرغانې واخست. بيا سن انصو وۀ (۳) چې کابل ئې له مقيم ارغون چې ځوے د ذوالنون ارغون وۀ رانيو ذوالنون ارغون په قندهار مقيم په کابل دواړه له طرفه د سلطان حسين چې بادشاه د خراسان وۀ ناست وو. بيا سن انصو پينځويشت وۀ چې قلعه ئې د باجوړ فتحه کړه. بيا سن انصو دوه ديرش وۀ چې بادشاهي د هندوستان ئې له سلطان

ابـراهيـم رانيـوه. يـوويشـت كـالـه بـابـر پـه كابل تير كړۀ. په ډير كشمكش ئې د پښتنو سره تيـروله. اما غرض تمام قصه نۀ وۀ مختصر وكيښ شۀ. پښتانۀ تر بابر نه پخوا په دا ملک وو. الـقـصـه پـس لـه هـغـه يـوسفزيو په دلازاكو لښكر وكړ تر سينده ئې پورې كړۀ. بيا د كهتړ د يـوسـفـزي سره ميرخې شوه. د اكبر بادشاه په وخت د كهتړو ډير زور وۀ.(۴) نيلاب ئې ښهر وۀ. نـقل دے چې يو لک كورونه په نيلاب (۵) كښې وو. ګدر هم دغه وۀ لار هم په خوړه په سـونياله و پښاور ته چليده. كهتړ عالم په هغه اوان مغضوب سلطاني شوے وو. د اكبر بادشاه د لـوريـه هـم پسې مهم وۀ. يوسفزي ئې ډير په تنګ ورسول. هسې چې د نيلاب د غرۀ په سر بـانـدې ئـې سـنـګـرونه وو. هورې ئې هم استقامت نۀ شۀ كړے. هورې ئې هم يوسفزيو لښكر وكـړ ورغـلـل د سيـنـد په غاړه چې فتح پور ئې بولي جنګ وشۀ. يوسفزي ئې رامات كړۀ. تر شيـر والـي پـورې چې مفاصله اتۀ نهۀ كروهه لري شكست وشۀ ډير عام يوسفزے مړ شۀ. نقل دے پـه هـغـه اوان چې اكبر بادشاه په مهم د مرزا حكيم له هندوستانه راغـے په اټک قلعه ئې د اټک سـازه كـړه او مـرزا سـليـم ئـې په اټک كښې له لښكره سره پريښ. اكبر بادشاه خود جـريـده و كـابـل تـه لاړ. كـابل ئې بيا په مرزا حكيم وسپارۀ. بيا راوجاررووت. دلازاک ئې له هـزارې خـانـه كـوچ و هـندوستان ته واستول. په دا اوان په دلا زاكو هسې خوارې راغله چې بيـان نـې نۀ شي. نقل دے په هغه اوان چې اكبر بادشاه له كابله و هندوستان ته وجاررووت. مان سنګهـ راجا ئې په اټک پريښ. پس له هغه په سوات كښې د لغمانيو د سواتيو سره خصومت پيـدا شـۀ. يـوسـفزيو وخت غنيمت وګاڼۀ طرفدارې ئې د لغمانيو وكړه. لښكر كښې ئې پسې وكـړه. سواتي ئې خاک سياه كړۀ. د باجوړ عالم ئې هم خراب كړ. په دا وخت يوسفزيو علي اصـغر خېل سردار نيولے وۀ. څو ئې بيخ و بنياد د سواتيو وكيښ. بند او تاراج او قتل ئې كړۀ. الـقـصـه هيـڅ يـوۀ سـردار لـه دې اولسـه علي اصغر غوندې فتح كړې نۀ وه چې ابتدا د ملک احـمـد او د خـان كـجـو تـراوسـه پـورې هيـڅـا مـلـک د تنول اخستے نۀ دے. اما علي اصغر جـدوجهـد وكـړ. پـه اتفاق د ملک هندال اكوزي او ملک ياما ملے زي او ملک مته خان او مـلا ابـراهيم الياس زي او ملک تركي مندڼ اوغيره دا ملک په خپل تصرف راوړ. په طبقات اكبـري كښـې ئـې راوړي دي چـې شپږ ويشتم كال د اكبر د جلوس په ورځ د يک شنبې په پيـنـځـلـسم د صـفـر سن د هجرت انصو نوي وۀ خبر راغے چې مرزا محمد حكيم [۹۹۰] په عـرضـداشـت د مـعـصوم كابلي او معصوم فرنخودي چې د هرات وۀ او په اغوا د فريدون چې نيـوي د مـرزا مـحـمـد حـكيـم وۀ لـه كـابـلـه په عزيمت د هندوستان د تسخير راروان شۀ. او بنادمان چې د دۀ نوكر وۀ په نيلاب راپورې شۀ. كنور مان سنګهـ مقابل شۀ جنګ ئې وكړ مړ

شهٔ. (۱) او مرزا محمد حکیم په نیلاب راپورې شهٔ. په پر ګنې د سید پور ئې واړول. بادشاه په د شورش له هندوستانه راروان شهٔ. پس له هغه خبر راغے چې مرزا محمد حکیم د بادشاه د راتلو په طرف د پنجاب واوریدل. د لاهوره په سیند پستنه پورې شهٔ. په لور د کابل روان شهٔ بادشاه کوچ په کوچ راتهٔ نیلاب ته راغے. په سن مذکور ئې قلعه د اټک سازه کړه. مسمیٰ ئې په اټک بنارس کړه. نور متوجه په طرف د کابل شهٔ. یوه هفته ئې په کابل کښې تیره کړه. بیا متوجه په طرف د هندوستان شهٔ. په طبقات اکبري کښې ئې راوړې دي چې په دیرلسم کال د اکبر د جلوس په ورځ د جمعې انهٔ ویشتم د ربیع الاول سن د هجرت اتصو څلېر نوي وهٔ عرضداشت د کنور مان سنګهه او د خواجه شمس الدین محمد له اټکه راغے چې مرزا محمد حکیم سخت بیمار دے او فریدون په بدرقه د کاروان له پېښوره متوجه د کابل وهٔ. په خیبر کښې د پښتنو سره ئې جنګ وکړ شکست ئې بیاموند. پستنه پښاور ته راغے. اتفاقاً اور دننه په قلعه کښې ولګید. زر بارونه د اوښانو وسول. فریدون له دې واقعې نجات بیاموند په بله لار و کابل ته روان شهٔ. په لار کښې اویا کسه له بې آبې او له تندې ترې ومړه. هم په دا ورځو کښې خبر د مرزا حکیم د فوت راغے. مرزا حکیم اګر چې سکه ورور د دهٔ نهٔ وهٔ اما دهٔ ته تر سکه وروره تیر وهٔ. ډیر ځله مرزا حکیم بې ادبې وکړه. اما دهٔ نظر په صله رحمې تقصیرات به ئې د دهٔ درګزر کړهٔ لکه حق د وروری دے. هغه رنګ وروري او مهربانې به ئې پرې وکړه. او څو څو ځله ئې لوے لوے امراګان په کومک د دهٔ تعین کړهٔ. کابل ئې بې خاره ځنله دهٔ ته تفویض کړ. پس د مرزا حکیم د مرګه اکبر بادشاه ته فکر د کابل او د غزنې د محافظت ولاړ شهٔ. مرضې په دا وه چې په دستور سابق کابل و فرزندانو ته د مرزا محمد حکیم تفویض شي. اما وزیرانو دا کار صلاح د دولت مطابق د مضمون نهٔ لیدهٔ. بیت:

رعیت نوازی و سرلشکری   نه کاریست بازیچه و سرسری

او عبدالله خان اوزبک بدخشان واخست. کابل ته په څؤ ناست دے. په دا سبب اکبر بادشاه مخ په پنجاب راروان شهٔ. هرګاه چې په دهلي راغے زیارت ئې د پلار او د نورو بزرګانو وکړ فقیران او مسکینان ئې په خیر او په خیرات ممنون کړهٔ او هم په دهلي کښې ئې د اختر میاشت ولیده. سبا ورځ د پنجشنبې وه. د اختر مونځ ئې وګزارهٔ. له دهلي نه ئې کوچ وکړ په نولسم د شوال و غاړې ته د آب ستلج راغے. په دې مقام خبر راغے چې کنور مان سنګهه خپل عالم په نیلاب پورې کړ. پښاور ته ئې واستوهٔ او شاه بیګ نوکر د مرزا محمد حکیم په اوریدل د دې خبر فرار وکړ. کابل ته لاړ. په ورځ د چارشنبې دیارلسم د ذوالقعدې و غاړې

ته [۲۱۱] د چناب راغے او په اتویشتم د ذوالقعدې و غاړې ته آب بهت (۱) راغے راپورې شۀ. په دا منزل عرضداشت د کنور مان سنگهه مشتمل په اخلاص او په اطاعت د کابل د خلقو او فتح د دې حدود بادشاه ته راغے. هرگاه چې کنور مان سنگهه په کابل داخل شۀ فریدون فرزندان د مرزا محمد حکیم له خانه سره و کنور مان سنگهه ته راغے. ملاقات ئې وکړ کنور مان سنگهه واړه په عنایات او التفات د بادشاه امیدوار کړل. او خپل خوے ئې د خواجه شمس الدین سره په کابل پریښ او خود متوجه له فرزندانو سره د مرزا محمد حکیم په ملازمت د اکبر بادشاه شۀ. په پینځۀ ویشتم تاریخ د ذوالحجې په قصد د راولپنډی (۲) چې په میان د رهتاس او د اټک واقع ده کنور مان سنگهه فرزندان د مرزا محمد حکیم په شرف د ملازمت مشرف کړل. بادشاه ډیره مهرباني پرې مبذوله کړه. هر یوۀ ته ئې لائق منصب او جاگیر ورکړ. هرگاه چې بادشاه په نواحې د اټک راغے زین خان کوکه ئې له ښۀ جمعیته سره په تسخیر د سوات او د باجوړ او په استیصال د مفسدانو تعین کړ. او بادشاه په ورځ د پنجشنبې په پینځلسم د محرم په سن انصو پینځۀ نوې په اټک بنارس داخل شۀ. په طبقات اکبري کښې ئې راوړي دي چې جلال الدین په هغه وخت چې عمر ئې د څوارلسو کالو وۀ په سن د انصو انۀ اتیا چې اکبر بادشاه له کابله راوجاروت په ملازمت د بادشاه راغے مهرباني ئې ډیره پرې وکړه. پس له څو ورځو ترې وتښ پښتنو ته راغے. فساد ئې آغاز کړ. لار ئې د کابل او د هندوستان بنده کړه. مثنوي:

درختے کہ تلخست ویرا سرشت — گرش بر نشانی بباغ بهشت
ور از جوئے خلدش بہ ہنگام آب — بہ بیخ انگبین ریزی و شہد ناب
سر انجام گوہر بر نا آورد — ہمان میوۂ

په ښوره کښې چې څوک کر کا — سود ئې نشته خپل ضرر کا
چې نیکي کړي له نا اهله — دا خبره ده له جهله
چې یاري دې وي له ماره — ځانئے مړ شومه کړه تیاره
چې په اصل بدسرشت وي — رنځ ئې مۀ څکوه چې زشت وي
ستا محنت به واړه باد کا — غم به تا لره بنیاد کا

اکبر په رفع په دفع د دوي کنور مان سنگهه تعین کړ. او کابل ئې د دۀ په جاگیر کښې ورکړ. هرگاه چې خبر راورسید چې زین خان کوکه د پښتنو سره په جنگ و جدل گرفتار دے په دویم د صفر په سن مذکور سعید خان گکهړ او راجا بیربر او شیخ فیضي او فتح الله خان شنواري او تالش بیگ او صالح عاقل او نور ډیر لښکر په کومک او په مدد د زین خان

کوکه ئې رخصت کړ. پس له څو ورځو حکیم ابوالفتح له جماعته سره هم په کومک د زین خان روان کړ. هرګاه چې زین خان ته دا امراګان ورسیدل لاس ئې په تاخت او په تاراج د پښتنو دراز کړ. هرګاه چې د کړاکړ په غاښې ورغلل یوهٔ سرې و راجا بیربر ته ووې چې پښتانهٔ نن شپه قصد د شبخون لري او دا غاښې درې څلور کروهه دے. کهٔ راجا کوچ وکا تری تیر شي. دوي به بې دست و پائ شي. راجا بیربر بې له اتفاقه د زین خان کوچ وکړ نمزدیګر د ملندری په غاښې ورغے. پښتانهٔ پرې راغلل په غشیو په ټوپکو په کاڼیو ئې ووینتل. لار باریکه شپه تاریکه مغل نابومیه لار ئې [۲۱۲] غلطه کړه په هلاکت ورسیدل عظیم شکست ئې بیاموند. اوهٔ اتهٔ زره خلق ډوب شهٔ. راجه بیربر ومړ او راجه تهې (۱) او راجا دهرم چند (۲) او خواجه عرب چې بخشي د هغه لښکر وهٔ او ملا شیرین (۳) شاعر او نور بنهٔ بنهٔ نامداران خلق په هغه شپه هلاک شول. او زین خان کوکه او حکیم ابوالفتح په پینځلسم د ربیع الاول په سن مذکور په بد حال په ډیر محنت و اټک ته ورسیدل. (۴) دا واقعه د اکبر په خاطر ډیره ګرانه شوه. دوي ئې له سلامه منع کړهٔ. پس له هغه ئې راجا ټوډرمل له عظیم لښکر سره په تلافي او تدارک د دې واقعې تعین کړ راجه ټوډرمل راغے څو ئلعې ئې بنیاد کړے. یوسفزي ئې تاخت و تاراج کړهٔ. ملک ئې پرې تنګ کړ. هم په دا ورځو کښې خبر و اکبر ته راورسید چې میر قریش ایلچي د عبدالله خان بادشاه د ماورا النهر له ډیره سوغاته سره راځي. او نظربے اوزبک (۵) چې له لویو امراګانو د عبدالله خان وهٔ له فرزندانو سره آزرده خاطر راځي. اکبر شیخ فرید بخشي او احمد کابلي په استقبال و مخې ته ور رخصت کړهٔ. چې له خیبره نه ئې راتیر کا. دا لښکر چې ورغے جلال الدین لار د خیبر نیولے وه. ډیر جنګ وشهٔ فتح د بادشاهي لښکر وشوه. دوي ډیر ومړل. میر قریش ایلچي او نظربیګ اوزبک تر خیبره راتیر شول. په طبقات اکبري کښې ئې راوړي دي چې هرګاه مان سنګهه په حکومت د کابل بادشاه سرفراز کړ. له امراګانو د کابل څو تنه ئې په رکاب ظفر انتساب کښې وساتل. باقي امراګان ئې د کابل په کومک د راجه مان سنګهه رخصت کړهٔ. هرګاه چې په پیښور داخل شهٔ حقیقت د جلال الدین ورته معلوم شهٔ. چې په تیراه کښې جماعه د قطاع الطریق ورسره ده. راجه مان سنګهه ته دا فکر صواب (۶) بنکاره شهٔ. چې اول دفع د دې فساد کړے بویه. پس له هغه په جمع خاطر کابل ته تلل بویه. په دې فکر کښې به وهٔ چې خبر د نظربے او د قنبر بے او شادي بے او د میر قریش او پائنده رضا چې په طریقه د رسالت له عبدالله خان راغلي وو، راورسید. په سبب د سنګ راه د پښتنو په لور د خیبر روان شهٔ. پس له ډیره جنګه جدله نظر بے اوغیره تر خیبره راتیر شول. په دا دوه ورځې کښې اراده

د مان سنگهه په طرف د تیراه وه. لیکن فرمان د بادشاه په لاس د خواجه دولت راغی. چې زین خان پښتنو مات کړ. بائده دي چې بې توقفه په شرف د ملازمت مشرف شي چې رفع او دفع به د دې گروه ته په وجه احسن وکړي. پس د مطالعې د فرمان حضور ته روان شۀ. په ورځ د نوروز ئې شرف د ملازمت حاصل کړ. هم هغه زمان حکم پرې صادر شۀ چې له هغه ځوخه سره چې کابل ته روان دے متوجه په رفع دفع د پښتنو د سوات د باجوړ شه. هرگاه چې مان سنگهه په حدود د پښتنو راغے زلزله پرې گډه شوه. راجا مان سنگهه اووۀ اتۀ میاشتې د کجو (۷) په تانه تیرې کړے. ډیر جنگ او جدل او تاخت او تاراج لوټل وهل بندول د نرو د ښځو ئې وکړۀ. په دا میان له طرفه د ماورا النهر پریشان خبرونه و اکبر ته راورسیدل. په محافظت ئې د کابل راجه بهگونت داس تعین کړ. راجه مذکور [۲۱۳] طاقت د دې خدمت نۀ لیدۀ. راجه مان سنگهه له تانې د کجو په خدمت د بهگونت داس چې د دۀ پلار وۀ اټک ته روان شۀ. خو چې حقیقت ئې د کار او بواعث د بادشاه ظاهر کړ جمدهر ئې د وړاندې پروت وۀ خان ئې پرې وواهۀ. وې وئیل چې زۀ ځوک کابل ځوک چې ونۀ مرم دې تا له فضولیو به خلاص نۀ شم. دې ما مړل بهتر دي. (۱) په طبقات اکبري کښې ئې راوړي دي چې په ورځ د نوروز چې دوه دیرش کاله د اکبر د جلوس او سن د هجرت انصو شپږ نوي وۀ خبر راورسید چې جلال الدین تاب د کنور مان سنگهه رانۀ وړ. په طرف د بنگښ لاړ شۀ. عبدالمطلب خان چې لوے امرا د اکبر وۀ او محمد قلي بیگ افشار او حمزه بیگ او اعتراد قلي (۲) افشار چې له قوم د قزلباشو وو اوزبک ځو امراگان په استیصال د جلال الدین و بنگښ ته تعین کړۀ هرگاه چې دا لښکر و بنگښ ته ورغے جلال الدین د ډیرو سورو او پیاده ؤ سره جنگ ته راغے. شدید جنگ وشۀ پښتانۀ مغل طرفین ډیر ومړل اما فتح د مغل شوه. هرگاه چې جلال الدین د پیر تاریک (۳) تاخت په غزني وکړ هزاره ؤ پرې غلبه وکړه. جلال الدین ئې مړ کړ سر ئې اکبر بادشاه ته واستوۀ. (۴) پس له هغه احداد د دۀ ورارۀ د شیخ عمر ځوے په ځائے دۀ کښیناست. هغه پښتانۀ وغیره چې ځوک د پیر روښان مریدان وو واړه زیات تر پیرروښان په دۀ وگروهیدل. ابتداً په تیراه کښې وۀ. دوه مکانه د دۀ د استوګې په تیراه کښې وو خرخني (۵) چې د لښکر زې په میان کښې وۀ بل مستوره چې د دولت زې سرحد دے. لوے مهابت خان (۶) په صوبه دارۍ کښې تیر صو کس دولت زې له احداده په طمع په تو په قول په امیدوارۍ ځنې راوبلل. په هغه اوان د دولت زیو ملک ملک اصغر وۀ. د ملک تور تره ملک اصغر خپل خویه چې شمس او رسول نومیدل ورسره ئې کړۀ مهابت خان راغلۀ. مهابت خان ته ځنو غوریه خیلو او بنگښنو ووئیل چې کۀ دا تیر صو کسه دولت

چې راغلي دي قتل عام شي. او په احداد پسې مهم وشي. احداد به بې پايه شي. دا مرکه ئې سره ښخه کړه. تقريباً يوه ورځ مهابت خان مجلس آراسته کړے وۀ. ملک تور ئې هم وبالۀ چې مهابت خان مست شۀ. په مستئ کښې ئې تر خلې ووتل چې کۀ دا عالم قتل کړم تيراه به مسخر شي. ملک تور ووې چې نواب بهتر پوهيږي. ملک تور چې رخصت شۀ کور ته راغے سبا چې مهابت خان صوفي شۀ. دا خبره ورياده شوه. يساول ئې واستوۀ ملک تور ئې وبلۀ. ورته ئې ووې چې برايه مو څۀ مصلحت سره کاوۀ. ملک تور انکار راوړ چې زۀ له خانه له جهانه هيڅ خبر نۀ وم. اوس هم بې هوشه وم. يساول په زور راوستم. د مهابت خان د خاطر تسلي وشوه چې دے په هغه خبره پوهيدلے نۀ دے. تور ملک نور رخصت شۀ. چې دوه ورځې تيرې شوے حيله حواله ئې وکړه چې کوړمه مې له ہاسه راځي زۀ ور رخصت شم چې مخې ته ئې ورشم مهابت خان ورته ووې تۀ څۀ لره ځې زۀ به پالکي انبالي ورستوم. دۀ ورته ووې چې ښتنې په دا نۀ پوهيږي. زۀ به ئې مخې ته ورشم. را به ئې [٢١۴] ولم. په دې صورت ئې خان ترې رخصت کړۀ. بلا توقف ئې وروڼه تر لاسه ونيول روان شۀ. چې تر ښهره ووت سړے ئې ملک شمس او رسول چې د دۀ تربرونه وو ورته واستوۀ وې ونيل چې ما خان پهبهانه له مهابت خانه رارخصت کړ. دۀ زمونږ د مرګ مصلحت کړے دے. کۀ راووتئ خلاص شوئ کنه ومرئ. دوې په ګفته د دۀ عمل ونۀ کړ. هرګاه چې ملک تور تيراه ته ورغے. نرۀ ته ئې ووې چې مهابت خان دا رنګ مصلحت کړے دے. ما دې خامن خبر کړ دوئ دې ما په ونيل عمل ونۀ کړ. سړے ورته په تلوار واستوه. کۀ نن سبا راووتل بهتر کۀ نه مړۀشول. نرۀ ئې هم په ونيل عمل ونۀ کړ چې تربور ئې دے له غرضه وائي. څو ورځې چې تر ميان شوے مهابت خان ضيافت وکړ هغه عالم ئې واړه وبالۀ. پس له طعام ئې وسلې د خلعت پهبهانه ترې واخستے. تير صو کسه ئې جدا جدا يو يو مړ کړ. يو د بل د حاله خبر نۀ شۀ. نور د غيرت خان (١) سره دوه ويشت امرايان په مهم د تيراه په لار و کوهاټ ته تعين شول. د اسماعيل زي په وطن ئې د اغزو سم ئې بولي د سنګ پاړه تر غاښې لاندې دے هورته ئې واړول. دولت زي د ملک تور سره روښاني د احداد سره د غاښې سر ئې ورته ونيو په سبا مغل سواري وکړه جنګ ته روان شۀ. مغل هسک وکړ د غيرت خان د ملک تور مورچه ورسيده او د راجپوت مورچه د روښانيانو ورسيده. جنګ ئې سره آغاز کړ چې مغل د غاښې په سر ورغے غيرت خان وړاندې شۀ. پنجو نوميدۀ دولت زے وۀ او په خيل کښې فيروز خيل وۀ ورسره غاړه غړې شۀ. دواړه يو د بله پريوتل. پنجو نارې کړے چې ما هم ورسره وهئ څو دے لاړ نۀ شي. دواړه ئې وبله باندې وژلل. نور مغل مات شۀ. بې حسابه ومړل. سوا تر نور

لوته پینځهٔ زره اس په اولجه کښې کښیوتل. نور مغل تاب رانهٔ وړ. لوړے مهابت خان تغیر شهٔ. چې ملک شمس او رسول مړهٔ شول. ملک اصغر په خپل ځائے ملکي په ملک تور وسپارله. په دا سبب چې فرزند ئې پاتو نهٔ شهٔ. پس له یوهٔ مدته په تیراه کښې په زمکه د مستورې دعوئ یو ځبله د اورکزي وشوه. احداد طرفداري د یوهٔ لور وکړه. ملک تور عبدالعزیز خیل چې نیکهٔ د مؤلف وهٔ له موره، لاسته له احداده آزرده شهٔ. ورته ئې ووئیل چې پیره نور هر امر دې منم اما یو د کالهٔ ﻫﻞ د ښتې واک نهٔ درکوم. احداد ورسره دښمني راواخسته. دے راغے مغلي شهٔ. لښکر ئې د مغل په تیراه روان کړ. دے د وړاندې شهٔ. احداد ئې له تیراه ویوست. په خوتره د ځتکو په لوا هرهٔ (۲) کښې ئې مکان ونیو. همیشه به ئې په هر لور تاخت و باخت کاوهٔ. لښکر ورسره ډیر وهٔ له هره قومه. سلوک ئې د هیچا سره نهٔ وهٔ. د دهٔ ارتینه ډیره صاحبهٔ حسن او دانا او فهمیده وه. او نوم ئې الائي وهٔ، د دهٔ خوړے عبدالقادر نومیدهٔ. په دواړو باندې احداد ډیر مئین وهٔ. هر کار به ئې د دوي په رائ په مصلحت کاوهٔ. تومنې د دهٔ مطرب وهٔ هغه هم د دهٔ صاحب مدار وهٔ. د احداد د هیچا سره سلوک نهٔ وهٔ. نقل دے له سفید ریشانو د اکوړ خیلو چې خدرے نومیدهٔ ببر وهٔ د یحیيٰ خان (۳) د سرداری په وخت ډیر بدنهاد وهٔ. همیشه په بدیو د دهٔ کار وهٔ. یو ځل له ببرو (۴) لوا [۲۱۵]غرهٔ ته ورغے. احداد ئې راسور کړ. خیر آباد ئې تاخت تاراج کړ. په وخت د جاروتو خضر خان اکوړ خیل د ځور پانړی په دره کښې پسې ورغے جنګ ئې وکړ خضر خان (۱) شهید شهٔ. په جهانګیر نامه کښې ئې راوړې دي چې شپږم کال د جهانګیر د جلوس سن د هجرت زر شل وهٔ. واقعې د احداد مخ ښکاره کړهٔ. (۲) خان دوران امرا په دا وخت له ډیره سپاهه سره په حدود د ننګرهار او د بنګښ وهٔ. او معز الملک بخشي د لږه جمعیته سره په کابل وهٔ. احداد فرصت غنیمت وشمارهٔ. ډیر سوارهٔ پلي ورسره کابل ته ورغے. معزالملک کوچه بندي د کابل ورته وکړه. متوجه په جنګ شهٔ. پښتانهٔ په سبب د کثرت په هر لور طرف په کوڅه پا بازار ئې پرې هله وکړه. معزالملک تاب د مقاومت رانهٔ وړ. په کوټ ننوت. کابلیو همت اختیار کړ. جنګ ئې ډیر وکړ. طرفین ډیر ومړل. احداد وجاررووت. کم و بیش سل کسا پښتانهٔ ومړل. دوه سوه اسونه هم د پښتنو پاتو شول. په دا ورځو کښې ناد علي میداني په لهوګر (۱۲) کښې وهٔ. هرګاه چې دا خبر وروورسید ډیر په تلوار راروان شهٔ. نمازدیګر داخل په کابل شهٔ. په پے د پښتنو روان شهٔ لیکن مسافت تر میان ډیر وهٔ ونهٔ رسید راجاررووت. هم په دا ورځو کښې فتح خان له لاهوره په ملازمت د جهانګیر راغے. شرف د ملازمت ئې حاصل کړ. دے ئې په حکومت د کابل او په تنبیه د احداد او په ضبط د پښتنو تعین کړ. پا

جهانگير نامه کښې ئې راوړي دي چې په شلم کال د جلوس په اتم د جمادي الثاني جهانگير په هوس د سير او د ښکار په طرف د کابل روان شۀ. څو ورځې ئې په گردونواح د ښهر ښکار وکړ. په ورځ د جمعې په درويشتم د جمادي الثاني ئې کوچ وکړ افتخار خان چې ځوے د احمد بيگ کابلي وۀ د احداد سر ئې راوړ. ملازمت ئې د بادشاه وکړ بادشاه سجده د شکر وکړه. شاديانې ئې وغږولے. حکم ئې وکړ چې سر ئې د لاهور په دروازه زوړند کړئ (۳) او تفصيل مجمل دا دے چې هرگاه مظفر خان ځوے د خواجه ابوالحسن و کابل ته راغے خبر ورته ورسيد چې يلنگتوش اوزبک په قصد د شورش او د فتنې په نواحي د غزني راغے لاچار د خپلو تعيناتو سره په سر د يلنگتوش روان شۀ. په دا ميان کښې احداد قابو وليد. په اشارت د يلنگتوش تيراه ته راغے دست اندازي او رهزني ئې آغازه کړه. يلنگتوش له دې قصده پښيمان شو. يو شخص ئې له خپلو عزيزانو مظفر خان ته واستوۀ. صلح صلاح ئې وغوښته وجاررووت. مظفر خان په سر د احداد له دغه جمعيته سره په لاره د گرديز (۵) روان شۀ هرگاه خبر د يلنگتوش د جاروتو او د مظفر خان د راتلو او احداد ته راورسيد تاب ئې د مقاومت رانۀ وړ پناه ئې و لوا غرۀ ته يوړه. مورچې ئې ځائے په ځائے وتړلے محکمې ئې ډيره وکړه. ذخيره او توښه او آذوقه او اسباب د جنگ ډير ئې تيار او آماده کړ. مظفر خان ورغے پينځۀ شپږ مياشتې جنگ و جدل زد و برد ډير وشۀ. په ورځ د شنبې اووم د جمادي الاول پس له ډيره جنگه چې درې پهره جنگ وشۀ. احداد په اهتمام د مورچه بندی له يوې مورچې بل وته تۀ په ټوپک ويشت شۀ ومړ پښتانۀ تنگ شول مورچې ئې پريښوے په دا ميان کښې يو شخص چې د احداد د لښکر [۲ ۱ ٦] وۀ په طريق د مجري ئې توره او چاړۀ او گوټي (۱) د احداد مظفر خان ته راوړه. (۱ ۱) يقين ئې وشۀ چې دا توره او گوټي د احداد ده. (۱ ب)مظفر خان هغه شخص د وړاندې کړ. هغه ځائے چې احداد مړ پروت وۀ ورغے د ټوپک په گولی ويشتے شوے وۀ. په دا مجرئ مظفر خان او تعيناتو ئې له بادشاه ښۀ منصب او اضافه بيامونده. پس له مرگه په لښکر ئې تفرقه گډه شوه. اما په لوا غرۀ کښې يو سخت ځائے دے کوړمه قبيله ئې هغه ځائے ته وختل خلاص شول. لښکر د مغل راوجاررووت. بيا په يوۀ مدت پسې د احداد قبيله له الاني له عبدالقادره سره و تيراه ته راغله. چې جهانگير بادشاه فوت شۀ. شاه جهان په تخت کښيناست لښکر خان صوبه دار کابل وۀ. په دا کشمکش کښې موسم د صوبه دار د کابل وۀ. کابل ته لاړ وۀ. عبدالقادر له تيراه لښکر کشي په پښاور وکړه. پښاور ئې محاصره کړ. نائب ئې د لښکر خان او ښهر پښاور (۲)ئې قتل کړ اطراف او جوانب الوسات د پښتانۀ واړه د مغل په بدی متفق شول. مگر درې قبيلې ارباب د پيښور قبيله

د مؤلف چې په هغه آوان کښې شهباز خان (۳) وۀ پـه اورکـزي کښې د ملک تور قبیله هغه دواړه قبیلې د مغلو سره په پښاور کښې محاصره شوے او شهباز خان د قبیلې سره په اټک کښې محاصره شۀ. سعید خان د پښاور په محاصره کښې ننووت. اول ابتدا د محاصرې عبدالقادر کړې وه. چې دا نور الوسات جمع شۀ. لکه د پښتنو جهل او ناداني عادت دے رشک ئې پیدا شۀ چې دا نوم د عبدالقادر کیږي. له عبدالقادره سره ئې خبرې د مخالفت واخستے عبدالقادر وپوهید چې د مغل سره به ساز وکه ما به نیولے ورکا. له دې وسواسه ئې په شپه کوچ وکړ. د خپل لښکر سره تیراه ته لاړ شۀ. مغل په دا حال خبر شۀ. چې لښکر د پښتانۀ تفرقه شۀ. له قلعې راووت. له پسمانده ؤ پښتنو سره ئې جنګ وکړ ډیر یوسفزي ګګیاني مړۀ شول شکست ئې وخوړ دا مقدمه چې د شاهجهان په عرض ورسیده. سعید خان چې له بنګښ راغے دا هسې تردد ئې وکړ. په یوۀ خله پنجهزارې منصب د کابل صوبه دار ئې کړ (۴) د کابل په صوبه کښې بیا عمل مغلي وچلید. عبدالقادر ئې د الائي سره په قول په عهد د لاسه کړ پښاور ته ئې راوست. په لږ ورځ شپې کښې وفات شۀ. (۵) مغل بیا لښکر کشي په تیراه په احدادیانو پسې وکړه. یوسف آفریدے، هزار میر اورکزے چې دا دواړه د احدادیانو سرداران وو جنګونه جدلونه ډیر وشول. دا یوسف افریدے هسې بهادر خوان وۀ چې د احدادیانو په لښکر کښې په مړانه د دۀ ثاني څوک نۀ وۀ. بیت:

پلنګانش سر پنجه فرد پنګال مغز شیر

په دا مهم کښې هم دۀ هسې تورې ووهلے چې عالم ورته حیران شۀ. بیا مغل په قول په قرار راوستل. هزارې هزارې منصب ئې دواړو ته ورکړ (۶) بادشاه په حضور وبلل وطن ئې پانې پت څخه ورکړ اوس چې سن هجرې زر سل درویشت دے هغه وطن د دوې د اولاد په تصرف دے. پس له هغه شاهجهان په عمل د کابل د صوبې په پښتنو [۲ ۱ ۷] سخت عملې وشوه. ماده الوسات له فتنې ډکه شوه. شاهجهان بادشاه شهزاده دارا شکوه چې ولي عهد خوے د دۀ وۀ په اګره کښې بندي کړ. په هغه آوان مهابت خان (۱) صوبه دار د کابل وۀ.

ذکر په بیان د خپل انساب او احوال د خپل اولس چې له یوۀ ځایه بل ځائے ته په سبب د حوادثو د روزګار ئې نقل کړے دے. او هر چې په دا مینځ کښې واقع شوي دي.

د خان علیین مکان نقل دے چې په بیاض کښې ئې په خپل دستخط کښلي دي چې اولس د خټک داخل په اولس د کرلاني یا کراني دے. تر کرلانه پورې او زموږ تر اولاده پورې شل پیړی شي. افضل خان د اشرف خان، اشرف خان د خوشحال خان، خوشحال خان

د شهباز خان، شهباز خان د يحيیٰ خان، يحيي خان د ملک اکوړي، ملک اکوړ د درويش محمد چې مشهور په چنجو دے. چنجو د تمن، تمن د حسن، حسن د شيخ علي، شيخ علي د عطا، عطا د بتي، بتي د انو، انو د برګويټ، برګويټ د تري، تري د تورمان، تورمان د لقمان چې مشهور په ختک دے. لقمان د ککي، ککے د کرلاڼ. کرلاڼ خورے د هوني دے. او هونے داخل په اولاد د سړبن دے چې له اولاد د شرکبون دے.(۲) دا قصه طول لري اما مجمل چې لابد دي کښل شي. وائي چې په زمکه د ايلاق او د قشلاق کرلاڼ له موره تولد شۀ. په سبب د واقعې و احشامات ته روان شول دے نې هير شۀ. هرګاه چې ورياد شۀ اورمړ چې ورور د هوني وۀ په طلب د ورارۀ وجاروت بيا نې موند. يو ديګ هم هورته د دوي نه پاتو شوے وۀ. کرلاڼ نې په ديګ کښې واچوۀ او ديګ نې په سر واخست. و احشامات ته نې راوړ. د اورمړ خپل خورے نۀ وۀ. و هوني ته نې ووې ما دا دې تا خورے په ډير مشقت تر دا خايه راوړ. تۀ نې مۀ اخله زۀ به نې پرورش وکړم. دا ديګ تۀ واخله. هونے راضي شۀ. هرګاه چې عوض معاوضه نې په ديګ وکړه پښتانۀ ديګ ته کړهے وائي. دې په دا سبب د کړي مسمیٰ په کرلاني شۀ. هرګاه چې عاقل او بالغ شۀ اورمړ لُور په نکاح ورکړه. اولاد نې ډير شۀ. خو کړهه خلق دي چې واړه منسوب په کرلاني دي. انشاء الله تعالي شرح د دې احوال به په خپل مکان راشي. اما په زعم د دلازاکو چې په کرلاني کښې د دوي اولس لوے دے دا رنګ دي چې دوي کرلاڼ ته سيد حسيني وائي په دا ترتيب چې کرلاڼ د سيد قاف، سيد قاف د سيد رجال، سيد رجال د سيد خاتم، سيد خاتم د سيد اسماعيل، سيد سماعيل د امام جعفر صادق، امام جعفر صادق د امام محمد باقر، امام محمد باقر د امام زين العابدين. امام زين العابدين د امام حسينؓ، امام حسينؓ د حضرت علي کرم الله وجهه. هرګاه چې اولس د دلازاکو ارشد په اولاد کښې د کرلاڼ دي لېږ به نې له انسابه په دې مجمل کښې وکښل شي. نسبت د دې قوم په برهان ورځي. د کرلاڼ دوه ځامن وو يو کودي دويم ککي. برهان او اورک زے دواړه ځامن د کودي دي. دلازاک او ورکزي دواړه په اولاد کښې د کودي ورځي. دلازاک دوه طائفې دي لوري بل يعقوب. طائفه د يعقوب له اولس د لوري زياته ده. او اولس د لوري درې تپې کيږي. عمر خيل، احمد خيل وتک زي. (۳) سحر (۱۳) هم داخل په لوري دي. [۲۱۸] د يعقوب دوه ځامن وو زکريا او اما، حيدر او سنے حسي(۱) دي. دواړه داخل په اما دي سيصده ورته وائي. د زکريا څلور ځامن وو يسين، مندے، موتے، مانے له هر يوۀ نه جدا جدا اولس پيدا شۀ. يسين خيل، مندے زي، موتے زي، ذکر به د ورکزي په خپل محل راشي. د ککي شپږ ځامن وو لقمان، اتمان، عثمان، خدران. دا څلور واړه اولسه په يوۀ له

خامنو د ککي منسوب دي. اتمان او عثمان له يوې موره دي او لقمان له بلې موره دے اما درې واړه له يوهٔ پلاره دي. او خدران ترهٔ د دې درې واړو وهٔ. اولس د اتمان خيل چې په سوات باجوړ اړنګ برنګ (۲) ميشته لري له نسله د اتمان دے او اولس د آفريدي چې په تيراه او باړه او خيبر استوګه لري له اولاده د عثمان دے. او اولس د ختک چې په سرحد د يوسفزي تر عيسي خيل پورې په غاړه د آب سيند پراتهٔ دي له نسبه د لقمان دي. (۳) شوتره او لواغر اوتل د بنو او کربوغه او ګرګره دا وطن د دوي دے وائي چې اسم د لقمان په دا سبب په ختک شهرت بياموند. چې لقمان او اتمان او عثمان او خدران څلور واړه ښکار ته لاړ وو څلور جونه د قبيلې د افغان صحرا ته وتلې وے يو د بله پيښ شول. وې وئيل چې راشئ په څلور واړو هسک واچوئ. دا لوے ښکار دے. لقمان پکښې مشر وهٔ په هسک راضي نهٔ شهٔ. وې وئيل اول به زهٔ يوه غوره کړم. په نورو دريو واړه هسک واچوئ. هم هغه رنګ ئې وکړل. لقمان په څلورو واړو کښې چې په ښهٔ پوشاک آراسته وه هغه ئې کښې ونيوه. اما چې ئې وليده حسن ئې موافق د لباسه نهٔ وهٔ. بيت:

بس صورت خوش که زیر چادر باشد چون باز کنی مادر مادر باشد

هغه نورې په ښائست تر دې بهترې وے. نورو ورونو ئې هسک پرې وکړ موافق د هسک ئې خپلې کړے. هرګاه چې د لقمان احوال ورته معلوم شهٔ په خندا خندا ئې ووې چې لقمان په ختهٔ لاړ مثل دے د پښتنو چې څوک په يوهٔ سبب درمانده شي وائي په خته لاړ په دا سبب نوم د لقمان ختک شهٔ. او عثمان ته په دا سبب آفريدے وائي چې ميلمانهٔ ورکړه ورغلهٔ دے ډير حقير او ګنجے او پريشان وهٔ. وخت د ژمي وهٔ. دوي له سردی يو د بله نژدې ناست وو ميلمنو ترې پوښتنه وکړه چې دا څوک دے. وې وئيل دا هم آفريده دے يعني خلقت د پروردګار په دا سبب نوم د عثمان آفريدے شهٔ. له نسله د هغو څلورو واړو جونو اولاد د لقمان ډير شهٔ. هغه جل چې لقمان خپل خان ته غوره کړه او نوم ئې د دې په سبب ختک بياموند وائي چې نوم ئې سباکه وهٔ. رنګ ئې تور وهٔ. قوي هيکله هوښياره وه. دوه فرزندان د لقمان ترې پيدا شول. يو تورمان بل بولاق. تورمان د پلار په رنګ وهٔ او بولاق سياه فام په رنګ د مور. په خانے د پلار تورمان کښيناست. له دهٔ دوه خامن پيدا شول يو تري بل ترکے په ميان د دې دواړو ورونو تري قابل شهٔ نوم ئې د پلار ژوندے کړ اولاد د تورمان واړه په نامه د دهٔ نومړل شي. د تري دوه خامن وشول. برګويټ [۲۱۹] او امير د برګويټ درې خامن وشول. اسماعيل او امير او انړو. او د ترکي چې څوے د تورمان دے دوه خامن وشول. ايسو او يوسف. او په ميان د تري د اولاد او اولاد د انړو او د ميري ډير شهٔ. او اولاد د رخړ په

مېرې ورځې. او د انړو چې خوږې د بر ګوېټ دې دوه فرزندان وشول. بټي او مهمندي. او د بنهي دوه خامن وشول. هوتي او خېنې. او د هوتي څلور فرزندان دي. فتح او شيخ علي او کمل او مېرې. د شيخ علي خوږې حسن دې. د حسن څلور خامن تولد شول. ميم او محمود او کريم او تمن. د تمن نهه خامن پيدا شول. درويش محمد چې په چنجو مشهور دې. بـړک، منـدو، ورې ناصر، شاهد او شيخ احمد، علي او خواځې. چنجو ته حق تعالیٰ پينځه خمن ورکړل يو ملک اکو او مجوړې او ميردلو او مېږې دا څلور واړه د يوې موره دي. چې مـرر د دوي اوريـا خيـلـه وه. پينځم غازي خان مور ئې بنګښنه وه. ملک اکو ته حق تعالیٰ اته فـرزنـدان کـرامـت کـړل. يـحيیٰ خان چې له موره ګوښې وهٔ او مور ئې مېږه خيله وه. نوم ئې تـړوکه وهٔ. بـل نـظـام هـم له موره ګوښې وهٔ. مور ئې بولاقه وه. نندرکو به ئې ورته وئيل. بل يوسف خان هـم لـه مـوره يـکه وهٔ. نوم ئې د مور دردانه وهٔ. له اولس د غوريه خيل له طرف د مهمند وه. بل تاتار خان چې مور ئې ام الولده وه. بل خضر خان او عبدالغفور چې غفور بيګ ورتـه وائـې. دواړه له يوې موره وو. مور د دوي هم ام الولده وه. پنځو نوميده. بل طاؤس خان مور ئې پائي نوميده څيني وه. بل مصري چې مور ئې خلوزی وه. پس له فوته د ملک اکو چې ملک اکو او يوسف خان د بولاقو د لاسه شهيد شول. يحيي خان په خائې د پلار په اتفاق د تـرې د اولـس کښينـاست. او نظام خان په حيات د پلار په ځواني مړ وهٔ. او يوسف خان نوې وادهٔ کړې وهٔ. يوه لور ئې وه فاطمه نوميده. ډيره توره ئې کړې وه. خان ئې پلار ته ورساوهٔ اما بخت ئې ياري ونـهٔ کـړه. او کـوشـش ئـې فائده ونهٔ کړه. د پلاْر سره ئې شربت د شهادت وڅيښي. مـذکـور بـه ئـې پـه خپـل محل راشي. يحيي خان له کشرانو ورونو سره چې هيڅ يو بـلاغـت تـه رسيـدلـې نـهٔ وهٔ. پـه قـصـاص ئې د پلار ملا وتړله. په مدد د اولس ئې رڼا ورځ په دښمنانو توره شپه کړه. انتقام ئې د پلار واخست. دښمنان ئې نيست و نابود کړهٔ. بيت:

چو دستت رسد مغز دشمن بر آر — که فرصت فرو شوید از دل غبار

يحيیٰ خان ته حق تعالیٰ يوولس فرزندان عنايت کړهٔ. شهباز خان چې دا ئې تاريخ دې د تولد:

تاریخ شہباز خان یحییٰ آن خان بے بدل — در کار رزم ثانیٔ رستم زیادہ بل

تاریخ مولودش زخرد چون بجستمش — گفتا زروئے صدق کہ ''شہباز خان اجل''

سن د هجرت پوره زر (۱) وهٔ. بهـادر خان عالم خان له يوې موره وو. قذيفه نوميده. اسماعيل خيـلـه وه. او آدم خـان لـه مـوره يکه وهٔ. مور ئې مهمندی وه. او فيروز خان مور ئې کهتړه وه نيک زن نـوميـده. لـه يـوسف خانه کونډه پاتو وه. يحيي خان په نکاح کړه. او شريف خان او جلال خـان چـې مـور ئـې بـولاقـه وه لـور د نـازو خـان وه چې کشنده د ملک اکو وهٔ. په بند

کښیوته. نوم ئې خانو وۀ. او د محمد خان او د ښادي خان مور ام الولده وه رانې (۲) نومیده او عبدالله او حکیم خان [۲۲۰] مور د دوي پیرخیله وه له اولاده د شاه اسماعیل نغري وه. پیرخیله به ئې ورته وے. د یحیي خان سوا تر دې خامنو اتۀ انۀ فرزندان نور وو په طفولیت مړۀ شول. پس له شهادته د یحیي خان شهباز خان قائم مقام په خائے د پلار شۀ. د شهباز خان څلور خامن لوے شول. یو خان علیین مکان چې تاریخ د خپل ولادت ئې په فارسي په پښتو پخپله ژنیلے دے.

تاریخ خوشحال خټک در ربیع الثاني — آمد چو درین کهنه رباط فاني
حق گرداناد مرد خیر رسان — تاریخش گشت "خیر عالمیاني"

دا تاریخ ئې په پښتو دے.

د هجرت زر دویشت سن وۀ — چې زۀ راغلم په جهان

بل شیخ جمیل بیګ چې سکه ورور د خان علیین مکان وۀ. مور د دوي خلوزی وه. بل شمشیر خان چې مور ئې امیره وه. بل میرباز چې مور ئې مهمندزی وه د نوښهر، لور د ملک باز وه. اوس پس له دا خپل نسب د ابا و اجداد چې ښاخ په ښاخ په ختک ورخي بیانیږي. واضح دې شي خان علیین مکان ته حق تعالي شپږ پنځوس نارینه کرامت کړۀ. په دا وارو کښې خان جنت مکان والا ښان چې والد د مؤلف دے ارشد او ولي عهد وۀ. تاریخ د تولد ئې دا دے. تاریخ:

به زا و یائے مه روزه پائن اول شب — اشرف کنار دایه بخفت
وقت بهار و شگفتن گل ها — حساب سال وے آمد بهار اېل شگفت (۲)

سعادت خان چې تاریخ د تولد ئې دا دے. تاریخ:

محرم که ششم بود از ماه — بنمود خدا روئ سعادت نگاه
تاریخ وے آمد زخرد غازی دل (۳) — یا رب که شود بعون حق دشمن کاه

بهرام خان چې تاریخ د تولد ئې دا دے. تاریخ:

در یاو الف ماه ربیع الاول — بهرام آمد بروئے رخشنده چو ماه
تاریخش شد که بخت بابا (۴) آمد — زین جمله شود جیم پنجاه

نظام خان چې تاریخ ئې د تولد دا دے. تاریخ:

جیم الف مه محرم بود — که بیاید نظام من به وجود
سال تاریخش جستم — گفت بامن نظام کل وجود (۵)

یحیيٰ خان تاریخ د دۀ او د شهباز خان د تولد په دا یوه مصرعه کښې راغلے دے. تاریخ:

دا ئیپے واړه لـه یـوې مـوره وو. مـور ئـې ښځینی له تپې د الک خیل وه. لور د الف ولد ملک سرور ولد میرک وه.

بل عابد خان چې تاریخ ئې د تولد دا دے. تاریخ:

در پایۂ صفر (٧) بسال سعید   قحط و وبا چون خلق رہید
تاریخ تولد عابد این شد.   عابد خانے ولی رسید (٨)

او خالد خان مور ئې کهتړه وه لور د دولت خان ولد علي شاه ولد شهباز نون يال وه چې خپل خان ئې مقدم د خپل اولس شمارهٔ. بل عبدالقادر خان تاریخ د عبدالعزیز خان او عبدالقادر خان چې عبدالعزیز خان په طفولیت کښې مړ دے دا دے تاریخ:

عبدالعزیز خان کہ کنون جان و ہوش ماست   نیم شب بہ پنجم ذوالحجہ زاد بس
در کاف و ہائے ماہ کہ ذوالحجہ گفت ایم   قادر وقت سحر شاد بس
چون نام او ز عین و ز نون شمردہ ام   ما خبر مولد و آوان بداد بس
عین است د با و دال و الف لام و قاف الف   دال است و را و خا و الف نون مراد بس (٩)

او شهباز خان او بخت ناک چې مور ئې لور د صاحب خان ولد بوچه خان ولد ملک باره مهمند زي د نوبنهر وه. بل صدر خان چې مور ئې لور د ملو خان ولد [٢٢١] اسماعیل خان یوسفزي وه. بل ظفر خان چې تاریخ ئې د تولد دا دے. تاریخ:

در شہر صفر اول شب سیزدہم   زادہ ظفرم نیست درین ہیچ گمان
جستم زخرد مرد تاریخش   گفتا کہ گلی ریاض (١) تاریخش دان

او سکندر خان او کمال خان چې تاریخ ئې تولد دا دے. تاریخ:

عمرم بہ چہل رسید چون زاد کمال   در ماہ حمل کاف جیم ابجد
تاریخ ولادتش چون جستم زحروف   فی الحال ز غین و سین و با سرزد (٢)

بل گوهر خان، نصرت خان چې تاریخ ئې د تولد دا دے تاریخ:

تاریخ بہ شیر زادن (٣) نصرت خان   عین و غین (٤) است از جمل (٥) نیک بدان

بل جلال خان او عادل خان او جعفر خان چې تاریخ ئې د ولادت دا دے. تاریخ:

چو عادل فرخندہ فال   تاریخ او بخوان کہ بفرخندہ فال زاد (٦)
جمید ثانی دو پنج با   زادست و جعفر از پس عشرین و یک زیاد (٧)
مولد خجستہ جعفر چو گہ گذشت   آمد جلال و باد فرح بر دل کشاد

سل عجب خان بل عبدالرحمٰن خان بل ابوالخیر خان بل نجابت خان بل شاکر خان بل طاهر

خان بل فرحت خان بل امان الله خان بل کامران خان او بنادمان خان بل پير خان دا فرزندان د خان عليين مکان سوريتي وو. او فرزندان د خان عليين مکان چې په طفوليت مړهٔ شوي دي دا دي. اکبر خان د خان جنت نښان مشر وهٔ د اوو ورځو وهٔ چې مړ شهٔ. مومن خان د دوه نيمو کالو وهٔ. زين خان د دوو کالو وهٔ. ففغور خان د دوه نيمو کالو وهٔ. نعمت خان بغرګونے وهٔ د اوو ورځو وهٔ بل منصور خان دا واړه سکه وروڼه د خان جنت نښان وو فوت شول. اسماعيل خان يوسف خان دواړه بغرګوني وو. يو د اوو ورځو بل د کال يو بل هم دا درې واړه وروڼه د عابد خان وو فوت شول. زاهد خان حامد خان عادل خان بشير خان دا شلور واړه وروڼه د کمال خان بغرګوني وو. بل علاؤ الدين بل مهابت خان بل فتح خان او نوروز خان چې د اتهٔ کالو وهٔ بل عزيز خان چې د پينځو کالو وهٔ. بل هم فتح خان نوميدهٔ د اتو کالو وهٔ بل جنګي خان او عبدالله خان سکه وروڼه وو. بل هم بشير خان نوميدهٔ. بل شکر الله خان واړه فوت شول. اووهٔ خامن (٨) ئې مجسم د اوو اتو مياشتو له موربه تولد شول فوت شول. يو ديرش کمې سترې لوڼه ئې فوت شوي دي. پينځهٔ کاله په قيد په کشاله د اورنګزيب وهٔ. فرزندان ئې ونهٔ شول. د هجرت چې زر اتهٔ اويا وهٔ له عمدة الملک مهابت خانه سره وطن ته راغے فرحت خان چې مور ئې هندوستانی وه په لسم د ربيع الاول په سن مذکور تولد شهٔ.

او د جميل بيګ ديارلس فرزندان وو او د شمشير يو فرزند وهٔ. او د ميرباز شپږ فرزندان وو. د يحيیٰ خان د يوولسو فرزندانو نه اولاد پيدا شهٔ. د بهادر خان الله يار او محمد يار او خدا يار او امداد او شاه بيګ له يوې موره وو [٢٢٢] امداد چې د لسو کالو شهٔ فوت شهٔ. او خدا يار په جنګ د يوسفزيو له لاسه د اکوزيو خاخي خيلو شهيد شهٔ. او دوه درې خامن ئې سوريتي هم وو. د الله يار هم شپږ فرزندان وو. او د محمد يار دوه فرزندان وو د خدايار يو خورے له خوره د ميرباز او يو له بله کوره وهٔ. خوريے د مير باز سعادت يار نوميدهٔ. او د عالم خان يو خورے آصف خان نوميدهٔ. عالم خان د پلاره سره شهيد شهٔ. او د آدم خان اووهٔ خامن وو. يو ساقي بيګ چې د شهباز خان سره له لاسه د يوسفزيو کمالزي اکاخيل شهيد شهٔ. باقي خان دولت خان اوغيره پينځهٔ شپږ فرزندان دا هم د آدم خان وو. له خامنو له نمسيو سره لس دولس تنه وو. خود په خپل مرګ مړ شهٔ خوان وهٔ. او د فيروز شپږ خامن وو ممريز خان او همت خان او جهان خان له يوې موره وو. مور ئې غوريه خيله وه له نسله داؤدزی. دوه درې خامن ئې سوريتي وو او شلور پينځهٔ خامن ئې فوت شوي وو. او د شريف خان يو خورے د راجپوتانو د لاسه په درياب د جهلم شهيد شهٔ. يو نمسے ئې هم وهٔ خود په خپل مرګ مړ شهٔ. د جلال خان يو خورے پاتو شهٔ او د محمد خان اووهٔ فرزندان وو او د

ښـادي خـان څـلـور خـامن وو او د عبدالله خان يو ځوی وۀ. او د حکيم خان څلور خامن وو. سـوريتي هـم وو. ابـراهيم او عبدالرحمن ژوندي دي نور ومړل. او د نظام خان اولاد پاتو نۀ شـۀ. او د تاتار خان يو ځوی جهان خان پاتو وۀ. او د حيات خان دوه فرزندان پاتو شول. خود په زحمت د بادګولي مړ شۀ. د ځوي ئي هم ځوی وۀ. او خود د لاسه د احداد پس له شهادته د يـحيـیٰ خـان شهيـد شـۀ. او د غفور بيګ اووۀ اتۀ خامن وو. دري ئي نمسي وو. او د مشرانو خـامنو چي اختيار او عوض بيګ وۀ مور ئي اورمړه عزيزه نوميده. او د طاؤس خان اولاد پاتو نـۀ شۀ. خود په خپل مرګ ومړ. خان عليين مکان سره ئي په قصاص د شهباز خان له يوسفزيو ښـۀ تـرددو کـړ. ډيـر پـه کـار راغـی. مـرد شـجاع بي پروا قوي هيکل خوش صورت وۀ او د مصري خان دوه خامن وو. يو عنايت خان بل غزني خان. خود ئي نوکري د شهزاده داراشکوه کـړه. او د مـجوري دري خامن وو. کرم او سونتګ او صاحب خان. کرم ومړ. دوه خامن ئي پـاتـو وو. سکندر اوغيره نمسي ئي نشته. له ميرداد چنداد مامو او رحيم داد پيدا شول. يو بل هـم وۀ ومـړ. د صـاحـب خـان يـو ځوی پاتو وۀ. ايمل نوميدۀ. او ميږے په حيات د ملک اکو فوت شۀ. اولاد ئي پاتو نۀ شۀ. او په فرزندانو کښي د تمن اولاد د چنجو او د بارک ډير شۀ. نـور هـم هـر يـو اولاد لـري. او د حسـن چي څلور خامن وو له هره يوۀ نه اولاد پاتو شۀ حسن خيل ورته وائي. له څلورو واړو فرزندانو نه ئي کم و بيش دوه سوه کوروته اولاد [۲۲۳] ولاړ شۀ. او په اولاد کښي د هوني فتح خيل ډير شۀ. حسن خيل ته نژدي دی. فتح خيل ورته وائي. د کيـمـل او د ميږي اولاد ډير شۀ. کيمل په حصه او په ورله شريک د فتح خيل دی. او ميږه خيـل د حسـن خيـلـو سـره شـريـک دی. او اولاد د بـتـي چي هونے او څينے دی. د څيني هم څـلـور خـامـن نامدار شول. الک، يٰسين او عيسیٰ او بکے. د بکي اولاد کم دی واړه به دوه سـوه کـوروتـه وي. او اولاد د الک او د يٰسين او د عيسیٰ ډير شۀ. دا دري واړه ورونه پونصو کـوروتـه دي. او شيـخ بزرګوار شيخ رحمکار يٰسين خيل دی. پلار ئي شيخ بهادر نوميدۀ. په تـحقيق بهادر د دين وۀ. معاصر د ملک اکو (۱) وۀ. هوني او څيني دواړو ته بتي خيل وائي. شـرف د ديـن او د دنيا حق تعاليٰ په اولس د ختټک کښي بتي خيل ته ارزاني کړ. او مهمندي دري تپي يـاديږي. کښيني او پاسني او ممه خيل مهمندي او بتي دواړو ته انړو خيل وائي. او د ميـري چـي ورور د انـړو وۀ څـلـور خامن وو. وتړ او خورم او ادريش او يٰسين. د يٰسين اولاد ډيـر شـۀ. ددۀ دوه خـامـن وو. يـو دولت خواجه چي اوس ورته ببر (۲) وائـي. او بل بارک. د بـارک هـم دوه خـامـن وو. آمن او ګل. چي آمن زي او ګل زي ورته وائي. د ګل څلور خامن تولد شول. يو وښے بل اکو دريم مندو څلورم اسماعيل هغه دري واړه په حصه او په ورثه يو د

بل شریک دي. مندړ (۳) ورتـه وئیلے شي. او اسماعیل په خپله نامه بالۀ شي. او د اسماعیل خـلـور خـامـن روئیـدار شـول. غـوري او تـرکے او خواځے او ماشے. ماشي ته حق تعالیٰ دري فـرزندان عنایت کړۀ. عمر او ترکے او بیا. په مندړ کښې اولاد د مدي ولد مدد ډیر شۀ. د دۀ دوه خـامـن وو. یـو عیسک بل مستي چې سرداري د میري خیل په ماشي خیل او په عیسک کښې وه اوشتـه او د تـرکي چې وررور د تري دے دوه فرزندان وشول یو ابو بل یوسف. او د ابـو اووۀ خـامـن وو امـنـدے او نصرتي او خواجه او بهرام شاه او عبدلي او بکاړي او مپال. او یـوسف چې خوړے د ترکي دے اولاد ئې ډیر نشته. کم و بیش پنځوس کوره دے. یوسف خیل ورتـه وئیـل شـي. او پـه اولاد کښـې د ابـو مـنـدے او نصرتي ډیر شۀ. نور شهرت نۀ لري. او د بـولاق چـې وررور د تـورمـان دے دوه خـامـن وو یـو مروت دویم ننـدرک. وائي چې ساغر هم خوړے د بولاق وررور د نندرک دے. مور د مروت علیٰحده وه او مور د نندرک او د ساغر یوه وه. سـاغر ته ئې بیتني وکړه. دے د ارتینې سره خسرانې ته ولاړ. هورې ئې عمر تیراوۀ. د دۀ شپږ خامن وشول. یو تره بل بنگي دریم مکوړي او درې نور وو چې اوس ورته درې تپې وائي. القصه چې ساغر په اولس د بیتني نوم پیدا کړۀ. په یوۀ سبب په میان د دۀ د خامنو او د خسر د خـامنو عداوت پیدا شۀ. له فرزندانو سره راولیږل وررور ته راغے. نندرک او ساغر او سیني او مـغلکي ئې له ځان ملۀ کړۀ. نوم ئې په ځان دري تپې کښیښې. حصه ئې د ملک له خپله وررره چـې مـروت وۀ جدا کړه. او د مروت شپږ خامن وو. [۲۲۴] یو محمود بل خواجه دریم عطا خـلـورم اچـو پیـنـځم غور شپږم مامون او وتو هم په نامه د مور بالۀ شي. اما له نمسیو د مروت دے. د دۀ خـلـور خـامـن وو. در مـلـک او مـندے او موشک او خورم تمام مروت ته مروزي وائـي. او سیني او مغلکي چې داخل په درې تپې دي. سینے له اولسه د دلازاک یو شخص وۀ راغلے (۱) زوم د بـولاق شـۀ. پـه دا سـبب پـه بـولاق کښـې پـاتو شۀ داخل په بولاق شۀ. او مـغـلـکے مـغل وۀ له لښکره د مغل جدا شۀ و بولاق ته راغے. یو مدت پاتو شۀ. وادۀ ئې وکړ. اولاد تـه ئـې مـغـلکي وائي. لکه اولس ته د اوریا خیل راغلي هم وائي. نقل دے چې یوه کونډه ارتیـنـه د اولـس د انړو خیلو راغله یو هلک وررسره وۀ نوم ئې اوریا وۀ. هغه هلک بتي وساتۀ او هـغـه ارتینه ئې په نکاح و مهمندي ته ورکړه. له هغې سوریا متولد شۀ چې اوس ورته سوریا خیل وائي. اولـس د اوریا خیل داخل د بتي خیل دي. او سوریا خیل داخل په مهمندي دي. او تـپـه د خلوزیو هم غوریه خیل خلیل دي شمار په تري دي. شرح د دې اجمال دا رنگ وه چې عـلي خان او ملي خان دوه وررونه وتړ وو په صحرا ئې کیږدی وهلے وے. یو ځوان دیوانه طور د دوي کیږدیو ته راغے. ځو کاله ورځخه وۀ. وررونه ئې په جستجو راغلل بیا ئې موند. دوي

وے چې کۀ له خانه ئې بوخو اما دے په تلل راضي نۀ وۀ. دا رنګ وائي چې نوم د دۀ رشيد وۀ. خوے د يعقوب خليل وۀ. ډيره ټينګه لينده ئې څکوله. په څکول د ليندې په نظر شۀ. سر ئې په غرۀ په بيابان ونيوۀ. اخر و کور ته د علي خان راغے. هر ګاه چې له نسبه ئې واقف شول. چې اصيل دے ملي خان لور ورکړه پينځۀ فرزندان ترې متولد شول. له هغه خامنو ئې دا اولاد باقي دے. او تپه د ډنګر زي هم له اولسه د غوريه خيل کوکي زي ده. اما اوس داخل په اولس د ترې ده.

ذکر د ختک د مکان چې له کومه ځايه راغلے دے او کوم کوم ځائے ئې سکونت او توطن نيولے دے او تخميناً حساب ئې د کورونو

اول سکونت د ختک په غرۀ د شوال وۀ چې وطن د وزير دے (٢) له هغه نه ئې نغڅ و بنو نه وکړ. له هوني او منګلي سره وسيدۀ. هر ګاه چې اولس د هوني او د منګلي له عداوته د شيتک او د کيوي اخراج شۀ هندوستان ته لاړل ختک د شيتک سره سکونت کاوۀ. واله د سدړوڼ د ختک په تصرف وه پس له هغه په سبب د عداوت په لور د لواغره او د جونو غرۀ او تيري او کربوغي او شيشم او ښوترې او لاچي او شکر درې لره راغے. تر نيلاب (٣) پورې ملک ئې تر خان لاندې کړ شير خان سوريا خيل او تپه د ببر و سونيالي (٤) ته راغلل. پس له يوۀ مدته اواز د شير خان ورته راورسيد. چې وسيع ملک ئې په لاس کښيوت. انړو خيل هم پسې کوچ وکړ چنجو هم له کربوغي کوچ وکړ. په شيخ تنګي ئې واړول. رفته رفته انړو خيل دلته راغلل. نقل دے چې کوهاټ تر ريسي پورې دا ملک د ورکزي وۀ بنګښ پرې د ...اسه راغے د ورکزي سره ئې جنګونه وکړۀ. د ختک هم د ورکزي سره آزردګي وه رفاقت ...ې د بنګښ وکړ. تر کوهاټ پورې تر دا ملک ئې ورکزے [٢٢٥] پاخوۀ. بنګښ ونيو. ...يسي، پټياله، زيړه، تر توره څپره پورې دا ختک ونيو. په کربوغه بتيه خيل ميشت وۀ. له کربوغي (١) نه ملک اکو و عزيزانو نه ازرده شۀ و خوړې ته راغے. په خوړه باندې ماندوري ...يشته وو. ملک اکو ميشته په کواز دره وکړه. بيا ملک جاني چې په هغه وخت سردار د ...تيه خيلو وۀ عزيزانو پرې ملامت وکړ چې ملک اکو دې په ناحق آزرده کړ بويه چې پخلا ...ې کړے. دے پسې راغے ولې ملک اکو ورسره نۀ تۀ. د ملک جاني هم دا ملک خوښ شۀ. ...ې بيا ورته راغے. د درسمندو (٢) عالم به هم په دوي باندې زور زياتي کوله. فکر ئې وکړ ...ې کۀ زۀ دا اولس له دې ځايه بيايم وطن خوږ دے څوک به راسره لاړ نۀ شي. بنګښنو سره ...ه بدې وکړم چې دا عالم واړه راسره خانه کوچ روان شي. د درسمندو په ښکار بنۀ بنۀ عالم وتلے وۀ په طريق معهود دوي و کلي ته راغلل واړه ئې قتل کړۀ. نور ئې له هغه ځايه کوچ

وکړ په شکردره ئې واړول. د باغ (۳) اوان پرې خبر شول. ملاحظه ئې خنې وکړه چې زمونږ ملک به ونيسي. تاخت ئې پرې وکړ. طرفين سره جنګ وکړ. ډير ومړل. له هغه ځايه ئې کوچ وکړ کوچ په کوچ خوړې ته راغلل. بيا ئې په سونياله قرار ونيو

ذکر د ملک اکوړي او د دهٔ د اولاد چې تمام ختک خاني او سرداري ئې په خپل خپل وار کړې ده.

ملک اکوړے ولد درويش محمد چې چنجو ئې بولي وائي چې به توره ډير مړنے بهادر وهٔ. او سخي نهايت وهٔ چې کهٔ سبا به ئې وو بيګاه به ئې نهٔ وو کهٔ بيګاه به ئې څهٔ موجود شو سبا به نهٔ وو. هر چې ئې په لاس راغلهٔ صرف به ئې د يارانو د فقيرانو وهٔ. بيت:

چې کېنبل کړه سپينه توره	په دنيا لوټې بازينه
د تيمر غوندې کهٔ نهٔ شي	د عنبر غوندې به شينه

نقل دے چې له کرېوغې نه راغے و سونيالي ته. يوه جماعه ورسره وه. هميشه به ئې تاخت و باخت کاوهٔ. په هغه آوان دور د اکبر بادشاه او د مرزا محمد حکيم وهٔ. اکبر به هندوستان کښې وهٔ. د کابل صوبه ئې په مرزا محمد حکيم چې د اکبر ناسکه ورور وهٔ سپارلې وه. شاه بيګ چې د مرزا حکيم نوکر وهٔ د مرزا له لوريه په پېنبور کښې وهٔ. چې مرزا حکيم مړ شهٔ کابل اکبر ونيو. هغه شاه بيګ خان کور شهٔ. بيا خان دوران د کابل صوبه دار شهٔ. وائي چې د اکبر بادشاه په وخت د هندوانو جوګيانو ډير قدر وهٔ. ملک اکوړي په سبب د غيرت د مسلماني ډير جوګيان وژلي وو. چې اکبر بادشاه ته راغے دا خبره مشهوره وه. اکبر بادشاه خنې پوښتنه وکړه چې څو جوګيان دې وژلي دي. دهٔ په عرض ورسول چې نور مې شمارلي نهٔ دي يوه مندره د غوږو چې مې ئې په مټ کښې ساتلې وه دوه لوے متونه خنې ډک شوي دي. ارشاد به مې د کلمې ورته وکړ کهٔ به مسلمان شهٔ امان به مې ورکړ او که نه مړ به مې کړ. نقل دے چې د شاه بيګ خان کور ورور ئې له لاسه مړ شهٔ. په هغه آوان د اولس زور نهٔ وهٔ دے ئې تنګ کړ. چې دا هسې زورور سړے دې تا له لاسه مړ شهٔ. تهٔ وردرومه له مونږه ووخه. دے روان شهٔ په پېښور کښې چاچو د شاه بيګ خان کور ته ورغے. (۴) ورته ئې ووې چې دا تقصير دې ما دلاسه شوے دے. اوس زهٔ کفن او چاړهٔ درلره راغلم. شاه بيګ خان [۲۲۶] سروپائ او څهٔ نقد هم ورکړهٔ. رخصت ئې کړ. وې ونيل چې دا هسې دستګير به زهٔ مړ ولې کړم (۱) تهٔ ورځه په خپل قوم کښې کښېنه. زهٔ به په لښکر درشم. جنګ به سره وکړو هر چې مې له لاسه وشول دې ما د ورور خون بها. ملک اکو چې قوم ته راغے. قوم ئې هم ورسره ملا وتړله. سنګر ئې د لښکر په ميله وکړ. وائي چې دوه جنګه ئې عظيم وکړ

طرلين سره ډير ومړل. اما اولس ئې بې ځايه نۀ کړ. شاه بيګ خان په بيرته وجاررووت. پخوا تـر راتـلـو د دې اولس ماندوري او ډنګرزي په دا ملک ميشته وو. هر ګاه چې اکبر بادشاه په تعاقب د مرزا حکيم راغے. (۲) هـالـۀ له قلعه د اټک بنارس بنا شوې نۀ وه. و نيلاب ته راغے په خصمانه د لارې زميندارانو ئې طلب کړل. عبدالرحمٰن خورم ميري خيل او بعضې ډنګرزيو نوم د ملک اکو ورته ياد کړ. چې دۀ خپل ځان نامدار کړے وۀ. حسب الحکم د اکبر بادشاه ملک اکو ورتـه راغے. مـلازمت ئې د اکبر بادشاه وکړ دا ملک دۀ ته مرحمت شۀ. له خير آبـاده تـر نـوښهـره پورې. ځائے په ځائے ئې خپل عالم قائم کړ. منصب ئې و دۀ ورکړ. ملک اکـو مـرد دانـا وۀ منصب ئې قبول نۀ کړ. په عرض ئې ورسول چې کۀ منصب زۀ يوازې واخلم نـو دا نور قوم به راسره حسد وکا. خدمت به دې تا سربراه نۀ شي. بادشاه دې ګوښي په دا لار مـقـرر کا چې اولس به په لالچ د حصه او د رسد د ګوښي خدمت د بادشاه په اعتقاد خاص ادا کـا. بـادشـاه د دۀ التماس قبول کړ. فرمان ئې د ګوښي ورکړ. راغے و خپل قوم ته ئې حقيقت بيـان کـړ. وارو مـلا ورسره د دولت خواهي د بادشاه وتړله. اوس اولس د خټک تر بلړه (۳) چې سرحد د يوسفزي دے او تر لکی (۳) چې سرحد د عيسي خيل دے (۱۴) توطن لري. تمام دا مـلـک به په طول د اوو ورځو لار وي. چې په غاړه د آب سيند واقع دے هره هره تپه خپل خپـل حـد لـري. حد د انړو خيلو له خير آباده تر غابنيه د جينا کوړ دے چې سرحد د آفريدي دے .(۵) او حـد د بـولاق لـه مـکهډه تر ټيري او حد د خټکو د ځوترې چې ميري خيل دي له ډينـګـوټه تر تهله د دوړ بنو اوس د هرې تپې تخميناً شماره کيږي. تپه د حسن خيل تيرصو کـوره. تپـه د فتـح خيل دوه سوه پنځوس کوره. تپه د ځينې شو نصو کوره. تپه د امندزي (۶) دوه سـوه پـنـځوس کوره. تپه د ډنګر زي پنځوس کوره. تپه د مهمندي شو نصو کوره. تپه د ايسـړي د نـصـرتـي پـونـصو کوره. تپه د اوريا خيلو تيرسو کوره. تپه د خلوزي سل پنځوس کـوره. تپـه د ګـلي زي او اولاد د ميري دوه زره کوره. تپه د دامن زي زر کوره. تپه د ببر (۷) تيـر صـو کـوره. تپـه د وتـړ پنځوس کوره. تپه د خورم سل کوره. تپه د ادريش خيلو (۸) سل کوره. تپه د رخړو (۹) شپيتـۀ کـوره. تپه د اميرو دوه پنځوس کوره. تپه د اسماعيل خيلو دوه سوه کوره. د بولاق تپه د محموتي سل اتيا کوره. تپه د هوني شپيتۀ کوره. تپه د خواخه خيل ځلويښت کوره. تپه د اچو خيل شل کوره. تپه د عزيزي (۱۰) تيرصو کوره. تپه د درملوک (۱۱) دوه سـوه کـوره. تپـه د مندي نوي کوره. تپه د موشک دوه سوه کوره. تپه د خورم دوه سوه کوره. تپه د ساغري زر کوره. تپه د سيني شو نصو کوره. تپه د مغلکي دوه صوه کوره. تپه د نندرک سل کوره. اوس هر چې په دا ميان کښې د خټک [۲۲۷] يو د بله عداوت

شوے دے کویښ شي. اول عداوت د میره خیل د ایسوړي سره وۀ. یو تر بله ئې ډیر جنګ جدال کړے دے. (۱) د میره خیل توان ونۀ رسید التجا ئې و انړو خیل ته یوړه. انړو خیل ئې کومک شۀ. ایسوړے ئې زبون کړ. بیا عداوت د انړو خیل د ساغري سره په یوې ارتینې چې شکر خاتون نومیده وشۀ. کار ئې په قتال په جدال ورسید. ساغریو لښکر وکړ په انړو خیل ورغلل، مات شول. ډیر ومړل. پس له یوۀ مدته ئې صلح مصالحه تر میان وشوه. په میان د اوریا خیلو او د مهمندي په ملک د شیشم هم بدي وشوه. څو کاله ئې فتنه وه. په میان د میري خیل او تپه د اسماعیل او د مهمندي هم ډیرې بدی شوي دي. او په میان د میري خیل او د سینې چې بولاق دے هم بدې شوې ده. میري خیل ډیر ومړل. په میان د درملوک او د ساغري هم فتنه شوې ده. د بتیه خیل د بولاق سره چې بدي وشوه. ملک اکو یوسف خان له ښو ښو خوانانو سره په دا بدی کښې ومړل. (۲) اخر انړو خیل یک رنګ شول. تمام تري او تورمان چې په دا زمکه وۀ ننګ ئې وکړ یحیې خان ئې سردار کړ په سر د بولاقو وختل. ډیر ئې بند او مړۀ کړل او جلاوطن ئې کړۀ. یوسف زي ته لاړل. سردار د بولاقو هغه وخت نازو خان توري خیل وۀ چې کم تپه د انړو (۳) وه دلته راغلل. داخل په نندرک شول. نازو خان په دوې کښې قابل وۀ سردار د دیو بولاقو شۀ. ډیر مرد دانا او بهادر وۀ. په حالت حیات ئې التجا و شهباز خان ته یوړه. هر ګاه چې شهباز خان راستې او درستې د دۀ ولیده ګناه ئې معاف کړ. له یوسف زیه ئې راوستل (۴) په خپل ملک ئې آباد کړ په سبب د نازو خان د دانایی بیا اولس د بولاق په خپل ملک آباد شۀ. بیا عداوت د څینې د حسن خیل وۀ او دا عداوت په دا وۀ چې څینیو په سرداری د یحیې خان رشک وخوړ ملا ئې د عداوت په ګمراهی د ملک ښادي کتهې خیل وتړله. کار ئې تر هسې حده ورساوۀ چې تمام بتې خیل ئې په دا کار له ځانه مل کړ قافیه ئې په حسن خیل تنګه کړه. لښکر ئې وکړ راغلل کوټ د سرائ ئې محاصره کړ په هغه آوان د سرای کوټ نۀ وۀ. د سرائ خاربندي ئې کړې وه. (۵) څو ورځې جنګ وشۀ. اخر حق تعالي فتح یحیې خان ته ورکړه. څینې اوریا خیل فتح خیل وغیره مات شول. له هرې تپې خوانان ومړل. په دا عداوت کښې اولس د مهمندي ورسرۀ نۀ وۀ. بلکې په لور د حسن خیل وۀ. او په اولس د مهمندي تپه د ممه خیل ته دل مله زمونږ وه. هر ګاه چې دا بدي درې څلور کاله ورغله یحیې خان نوښار ته لاړ وۀ (۶) څینیو لار ورته نیولې وه. په وتړو (۱۶) یو د بله برابر شول یحیې خان او عالم خان چې خوے د یحیې خان وۀ ډیر بهادر او شجاع وۀ. دواړه پرې ګډ شول شهیدان شول دوي هم ښۀ خوانان زخمي کړۀ. اما څوک ئې د لاسه مړۀ نۀ شول شهباز خان په څینیو ورغے پلار او [۲۲۸] وروور ئې واخستل ښخ ئې کړۀ. په

اتفاق د حسن خیل او د قبیلې دستار د سرداری په سر ئې د شهباز خان کښیښ. نور ئې په قصص ملاوتړله. ختک او یوسفزي چې څوک څوک ئې اشنا وو تول ئې کړهٔ. لښکر ئې وکړ. په کلیو د څینیو ورغلل کلي ئې وسول. څیني په غرهٔ وختل. څوږے د ملک بنادي ومړ. کار په هسې خائے ورسید چې اوړ کي او ارتیني د څینیو په بند کښیوتل لیکن عاقبت اندیشي ئې وکړه چې څینے وررور زمونږ دے په ختک کښې تر دهٔ نژدې وررور څوک نهٔ لرم. البته یوه ورځ به مې پکار شي. اولاد ئې په بیگانه اولس بند کړے نهٔ بویه. دا بدنامي مناسب نهٔ ده خپلې خوینـدي میندې دي. دا لښکر ئې وجاریوست کور ته راغے. پس له یوهٔ دوه کاله چې شهباز خان بادشاه ته لاړ. راغے څیني هم د خپله فعله پښیمان شول. خپله پښنه ئې په تبر وهلې وه. ورغلل په پښو د شهباز خان پریوتل. په راتلو د شهباز خان له هندوستانه ملک بنادي او آفریدے خورم (۱) چې بد آموزه مفتن وو دواړه په پښاور کښې بندي خانه وو هغه دواړه شهبز خان په پښاور کښې مړهٔ کړل. سردار د څیني ملک سرور وهٔ. شهباز خان د ملک سرور کره وورغے. کم ستر ئې د څیني دلاسه کړهٔ بیا ئې په خپل خائے کړهٔ. بیا عداوت په میان د څیسي او د مهمندي وهٔ چې دا دواړه تهي یو د بله قدیم په عداوت دي. بیا د اوریا خیل د خلوزي بدي وشوه. په ډیر کاله د دوي دبنمني وه. په سعي د خان علیین مکان بدي د دوي برطرف شوه. بلکې په حکمې او په صلابت د خان علیین مکان لویه بدي له اولسه د ختک منعدمه شوه. شابې خیلو په زوم د ملک ابراهیم ملک الف خسر د خان علیین مکان مړ کړو. ابراهیم ئې د ملک الف په خامنو مړ کړ

ذکر د ختک اولس چې له تورو اولسونو سره ئې بدي کړې ده

د انړو خیل د بنگښ د درسمندو سره خصومت شوے دے. ډیر قتال او جدال ئې یو لـر بله کړے دے. د لوهانیو د عیسي خیل د سارنگو د موسیانو د میري خیل د نصرتي سره کرات مرات سخت جنگونه شوي دي. دوه خله لوهاني په څوتره راغلل. یو خل خلیفه ماشي خیل چې بنهٔ کدخدائ وهٔ لوهانیو مړ کړ بیا میري خیل او نصرتي په سارنگو او موسیانو غلبه وکړه. له لکی نه ئې جلاوطن کړهٔ. و خوشاب ته لاړهٔ. د وزیرو سره عداوت د میري خیلو شوے دے. بیا تري بولاق په ملک د اواڼ د سوڼ سکیسر او کهته (۲) تر سرحده د بهیرې د خوشاب لاس د غلبې او تسلط بیاموند. دا ملک ئې خراب او اوجاړ کړ ډیر اواڼ ئې نر سخې بندي کړهٔ. کم و بیش څلوینبت زره اواڼ کم ستر نر ښځې په بند بندي شوي وو. په ضبط په ربط د خان علیین مکان تري بولاق دست درازي پریښوه. هغه ملک د جبار قلي سکهړ شهٔ. میر خان خوږے د جبار قلي په اغوا د سنبلو بنگي خیل وبلل چې رفاقت زمونږ

وکړئ. چې د بلوڅو سره جنګ وکړو. اما خپل قول ئې [۲۲۹] مات کړ کم و بیش سل خوانان ئې د بنګي خیلو مړهٔ کړهٔ. بیا ملک اکو مرحوم دوه درې خله په آفریدیو وزغاښت. بیا عداوت او دښمني د یوسفزیو په میراث و خان علیین مکان ته پاتو شوه. اول جنګ دا وهٔ چې یوسفزي ئې د مصري کوته جلاوطن کړهٔ. مصري کوټ شاید مصري باندې ته واتي. (۱) بنهٔ بنهٔ سرداران د یوسفزیو مړهٔ شول. یحییٰ خان ملک مامو مړ کړ. هر ګاه چې شهباز خان پښه په رکاب فتح مآب کښېښوه خوب او ارام د یوسفزیو ورک شهٔ. کرات مرات ئې مندڼ مړهٔ کړهٔ. کهٔ هر څو پلار منع کاوهٔ دے نهٔ منع کیدهٔ. د یوسفزي په بدی کښې ئې د پلار په حیات سخت زخمونه په تن اخستي وو. اسونه ئې په جنګ کښې ګوډ کړي وو. پس له شهادته د یحییٰ خان په وخت د خپلې سرداری له مندنه له اکوزیه نه ئې خراج او باج اخست. تمام مندڼ ئې په ضرب د تورې مسخر کړے وهٔ. په میان د اتمانزي او صدوزي غلیظ او شدید عداوت وهٔ. نور مندڼ د صدوزي او کمالزي امازي حمایت د اتمانزي کړ لښکر ئې په وهل د مرغز(۲) جمع کړ اولس د صدوزیو ملک الو عمر خیل خوږے د ملک بلوچه یګانه آشنا د شهباز خان وهٔ. له څو نورو کدخدایانو سره په اتفاق ئې راستوهٔ. التجا ئې شهباز خان ته راوړه. خپل احوال او کم قوتي او قوت او غلبه د غلیم ئې عرض کړه. معاونت او استمداد ئې وغوښت. شهباز خان له ډیره لښکره سره روان شهٔ په مرغز ئې ډیره ونیوه. په ورتلل د شهباز خان اتمانزي مندڼ برهم وخوږ تفرقه شهٔ. کلي د اتمانزیو ئې وسول. کم و بیش یوه میاشت هورته وهٔ. کار ئې د صدوزیو محکم کړ. بهاګو خان ئې خان او سردار د دوي کړ. صدوزیو ته ئې هسې نصیحت چې په کار د اولس راځي وکړ. دوي بنه پېښکښې د شهباز خان ترنظره تیره کړه. نور راروان شهٔ کورته راغے. هر ګاه چې بهاګو خان استقلال پیدا کړ خاني ئې جاري شوه. په سبب د خپلې کوته اندیشی احسان ئې د شهباز خان فراموش کړ. شیخ نظامي فرمائي بیت:

آب حیات از دم افعی مجوئی — دشمن طبعی مجوئی دوستی

دوه درې خله ئې تمام مندڼ جمع کړ د سیند و غاړې ته راغے. کلي ئې د بولاقو خراب کړهٔ. یو خل شهباز خان په لږ جمعیت تر سینده ورپورې ووت. په جهانګیرې ئې ډیر جنګ وکړ (۳) د خټکو سورو سوارهٔ د یوسفزیو مات کړهٔ. دوه درې تیر پرتابه ماتې ئې یوړه. بنهٔ سرداران ئې ملک چندڼ وغیره پریستل مړهٔ ئې کړهٔ. کجیم دار اسونه ئې په لاس راغلهٔ لیکن پیاده ؤ د یوسفزیو په پیاده ؤ د خټکو زور وکړ راهسک ئې کړهٔ. په سیند ئې وویشتل. نولس شل کسه په سیند ډوب شول. شهباز خان چې احوال په دا منوال ولیدهٔ له صفه د غلیم

مطابق د سنت سید المرسلین مردانو غونډې ئې خان ورطې د هلاکته ویوست. (۳) په جنګ جنګ په ګودر د پیر سباک راغې یوه زبونه بیړی ولاړه وه. په هغه کښې کښیناست. د قبیلې سره راپورې شۀ اما بیړی په ډوبیدو وه په هزار مشقت راپورې شۀ. همه مسلح خوانان اسونه برګستوانونو سره پکښې وو. امید د خلاصې نۀ وۀ. حق تعالیٰ هغه کشتی راپورې کړه. خان علیین مکان هم په دا بیړی کښې د پلار سره ناست وۀ. لا جنګونه ئې لیدلي نۀ وو. ډیره ئې په مخ نۀ وه. پس له دې واقعې دوه درې میاشتې لښکر ئې د الوس تیار کړ. د مانیری (۵) په کلي د بهاګو خان ورغې. هغه کلے ئې وواهۀ. [۲۳۰] راوجاروت. بهاګو خان پسې تعاقب وکړ. شکست ئې بیامونـد. ډیر عالم خنې مړ شۀ. د کچو په ترکی خنې پسمانده وختل خلاص شول. غانماً سالماً لښکر د شهباز خان کور ته راغې. د هغه اول جنګ چې شکست شوے وۀ. بیا په دا فتح نقش درست کښیناست او الوس د منډن په اطاعت او په مال ګزاری راغے. دوه درې ورځې پس بیا بهاګو خان لښکر جمع کړ تلاش او تردد ئې وکړ هیڅ کار خنې ونۀ شۀ. پس له څو ورځو په سن د زر او پنځوس د هجرت شهباز خان د لږ جمعیت سره په اکازیو (۱) چې تپه د کمالزیو ده په مال ګزاری کښې سستي وکړه. سور شۀ حکم ئې په تاخت و باخت د مال مویشي وکړ. تر زرو زیات غوا میښې ئې په لاس راغلے. په هغه شپه باران ډیر وورید. موسم د عین خلے وۀ. روژه په خلۀ وۀ غنیم لنیم ورپسې راغے جنګ شروع شۀ. ساقي بیګ چې خوے د آدم خان (۲) وۀ اس ئې په غشي وویشت شۀ. ښخ پائي ئې وکړه. له اسه پریوت. زمکه ختې لائ وه. ساقي بیګ پټ سپاهي وۀ. په ختـه کښې پیاده تـلے نۀ شۀ غلیم غلبه وکړه. خان علیین مکان ساقي بیګ ته مټ وکړ چې وائ خلي اما اس ئې یے شۀ. (۳) په دا مینځ کښې ساقي بیګ له اسه او له خان علیین مکانه پستنه شۀ. په تورو ئې وواهـۀ. په دا وخت چې خان علیین مکان نظر خپل پلار وته وکړ دے په شقیقه په غشي ویشتلے شوے وۀ. خپل اس ئې چې ګوډ شوے وۀ او زنګون ئې په غشي ویشتلے شوے وۀ ورته ئې ښکاره کړ. مطلب ئې دا وۀ چې کۀ دا احوال ئې پلار ووینې جنګ به پریږدي روان به شي چې په بد ځائے ویشتلے شوے دے. اما په دا ئې نظر نۀ وۀ. ورته ئې وفرمائیل چې تۀ وړاندې شه په بل اس سور شه. خان علیین مکان چې دوه درې تیر پرتابه وړاندې لاړ اس ئې پریوت. پیاده روان شۀ. جمیل بیګ ورور ئې دنبال نیولے وۀ. دے هم په لاس په غشي ویشتلے شوے وۀ. لاس و نیزه ئې دواړه پنیلي وو. دوه درې تیر پرتابه چې لاړ هم هغه اس چې ساقي بیګ ئې پریستلے وۀ سورو نیولے راوست. په هغه اس سور شۀ پلار ته راغے یو بل غشے هم په دا تردد کښې په څنګل وویشتلے شۀ. اما جنګ ئې کاوۀ. مال مویشي ئې تر بلره

راپوري کړ هالهٔ جنګ منقطع شهٔ. مرزا عالي حسن (۳) خيل هم په دا خل مړ شهٔ. له لرې ښايه نظر د شهباز خان په مرزا عالي وهٔ. په عين جنګ کښې خان عليين مکان ته ئې ووې چې مرزا عالي ما ليدهٔ چې ومړ هرګاه چې جنګ وشليدهٔ. طاقت د سوارى ورته پاتو نهٔ شهٔ له اسه کوز شهٔ بند ئې د نيزو ورته ساز کړ پياده ؤ راواخست. نماخفتن کور ته راغلل. په دا جنګ کښې هيڅ يو سور زمونږه بې جنګه پاتو نهٔ شهٔ. او بې زخمه کور ته رانغے. هر څوک په علاج د خپل زخم مشغول شهٔ. توبرې چې د خان عليين مکان د پښې په هډوکي ښخ وهٔ. دوه دريو تنو په انبور ونيو په زور ئې وکيښ. پس له دوؤ دريو ورځو ئې خان عليين مکان [۲۳۱] راواخست. پلار ته ئې راوړ. دوه درې پرهارونه ئې نور هم وو. عرض ئې وکړ چې کوم پرهار مو دړد ډير کا. وې ونيل چې پرهار د سر خان عليين مکان وپوهيد چې دا زخم مشکل (۱) دے پس له پينځو ورځو په آخر د رمضان زخمي شوے وهٔ په پينځم د شوال له دار فنا و دار بقا ته ئې کوچ وکړ. دا تاريخ د شهادت خان عليين مکان په فارسي په پښتو ونيلے دے. تاريخ:

روز آدينه آ رمضان — خان ما رخش بطرف ميدان راند
گشت فيروز غنيم لئيم — ليک زخمی روماند
پنج شنبه اول شوال — ايزد او را بسوے خلد بخواند
گشت سال شهادتش — که به خمسين و الف اسپ جهاند

دا تاريخ ئې د پښتو دے. تاريخ

سن د هجر زر پنځوس وهٔ — چې شهيد شهٔ شهباز خان (۲)

له زخمه سره کوزن هم وواههٔ ډير زړه ور وهٔ پروا ئې د زخم نهٔ وه. د يک شنبې په ورځ ئې اودس وکړ. سر ئې برهنه کړ مسحه ئې وکړه باد وواههٔ. دوه ورځې ئې ژبه له ګفتاره بنده شوه. وصيت ئې ونهٔ فرمايهٔ. شپږ فرزندان د دهٔ پاتو شو. يو خان عليين مکان چې مشر وهٔ. بل فقير جميل بيګ. دريم شمشير خان شلورم ميرباز. هرګاه چې خان عليين مکان په سن و سال له نورو ورونو مشر وهٔ. په سردارى د خپل اولس نامزد شهٔ. بهادر خان چې ئې مشر ترهٔ وهٔ هم په دا کار موافق شهٔ. تربرونه ئې هم په خدمت سرګرم وو. فيروز خان او جلال خان او عبدالله خان په هندوستان وو. له دې واقعې په لارې و کور ته راتلل خبر شول. په ډير تلوار وطن ته راورسيدل. پس له شلويښتو ورځو چې پښه د خان عليين مکان ښه شوه پس له دوه دريو ورځو ښکار ته روان شهٔ. حضرت شيخ بزرګوار شيخ رحمکار قدس سرهٔ ته ورغے دعا ئې ترې وغوښته. لښکر ئې په بهانه د ښکار جمع کړ. په رڼا ورځ ئې په انتقام د غليم په کلي د اکاخيلو (۳) سواري وکړه. څو ورته بهادر خان راضي نهٔ وهٔ چې دا رنګ په دا رونه سوارى

هیـځا کړي نۀ ده. اما ورغې په کلي ئې اور پورې کړ حکم ئې پرې کړے وۀ چې سپے سړے هـر چې پـه مـخـه درشـي پـه قتـل ئې ورسوئ. هر چې په مخه ورتلل دواب چارپائ نر ښځې هـلکان هيڅ صرفه ئې نۀ کړه. مړۀ ئې کړل. د وينو رود ئې د دوي په غوليو روان کړ د سپيو د سرو ويني ګډې وډې بهيدے. دوه درې کلي نور چې متصل وو و هغو کليو ته سوارۀ ورغلل هغه ئې هم وسول. نمازديګر راوجاروت. کمالزيو او امازيو سيصده لوکے وليد. شپږ زره خلق ورپسې ووت دوه کروهه ورپسې راغلل. هغه خائے چې شهباز خان شهيد شوے وۀ وۀ دريدۀ. جـنـګ ئې شروع کړ. دوي مات شول. کرامت شاه او څو تنه نور هم ترې مړۀ شول. تر بلره پـورې وريـسـې لـرې راتـلـل نـژدې ورتـلـے نـۀ شـول. چې د بلره راپورې شول په خائے ودربدل. نمازشام نژدې شۀ. په دا تردد کښې يو کس (۴) په توپک زخمي شۀ کور ته راغے مـر نـۀ. دا رنګ لويه فتح حق تعالي رائيګان د خان عليين مکان نصيب کړه. په دا ميان کښې فـرمان د سـرداری له حضوره د بادشاه په نامه د خان عليين مکان صادر شۀ. او منصب د پلار ورتـه مـرحـمـت شۀ. نور مهم د جګتا (۵) پيښ شـۀ. مـذکور د جګتا پخوا تير شوے دے. (۲)

[۲۳۲]

ذکر د خان عليين مکان او د دۀ قصيده مشتمل په خپل احوال

د خـدایٔ کرم راباندې چې ئې هست کړم له عدمه	بـل خـلـقـت ئې نـۀ کړم راپيدا شوم لـه آدمـه
پشـت پـه پشـت راغلے مسلمان محمدي يم	چـار د چـار يـارانو سره واړه (۱) مـنـم سـمـه
درست په دا پوهيږم چې څلور مذهبه حق دي	زۀ د حـنـفـي مـذهـب دعـوئ لـرم محکـمـه
ميـنـه ئې پـه زړۀ کښې د علماؤ راکړه ډيره	مـيـنـه ئې د دور د شيـخـانو راکـړه کـمـه

غرض دا چې دا قصيده په کليات د خوشحال خان کښې تمام نقل ده. او بله دا قصيده ده:

راشـــه واوره دا بيـــان (۲)	نيک و بـد پـکښـې عيـان (۳)
هـم عبـرت هـم نـصيـحـت دے	پـرې دې پـوه شـي دانـايـان
زۀ خـوشـحـال د شهـباز خـان يم	چـې تـورزن يم کـان پـه کـان
شهبـاز خـان د يـحيـي خـان وۀ	چـې بـل نـۀ وۀ هسـې خـوان

تر اخره پورې دا هم په کليات کښې نقل ده.

ذکر د خانِ عليين مکان د قرانونو چې په حالت د طفوليت او شباب پرې تير شوي دي او حق تعالیٰ په خپل فضل و کرم پرې آسان کړي دي.

اول قـران دا وۀ چې په ايام صبي (۱۳) چې شـش هـفت ساله وۀ د سرائ په ګودر چې ارتيـنـې نـمـري وينځې د مونږه وينځې ورغلے په درياب ئې نمري ولل او خان عليين مکان په

غـاړه د سیند ورته لنبل د دوي له ستر ګو غائب شۀ. دریاب واخست یو تیر انداز ډوب ئې یوړ تر واړو کوزه دولتی د آصف مور په نامه چې د شاه عالم وه چې د خان علیین مکان د وریښمو څـونکـے په نظر کښیوت. په دا قصد چې د وریښمو تارونه دي اوبۀ ئې وړې را وبه ئې کاږم. کـۀ لاس ئـې وروړ زور ئـې کـړ خـان علیین مکان ور وخوت. نعرې ئې کړے واړه خدمتګارې ورتـولـې شـوے. سـرونـه ئـې شو کول مخونه ئې وهل. دې بیخوده پروت وۀ. ګیډه ئې د اوبو ډکـه وه ډیرې اوبۀ ئې له نفس له خلې لاړې. بیا په شعور راغـے را وائ خست کور ته ئې راوړ دویـم قـران د اتـو کـالونو وۀ په هغه کال چې د سنګ پاړه قتل کیدۀ د لوے مهابت خان عمل وۀ. خـان عـلیـن مکان د هلکانو سره لوبې کولے، اوړے وۀ. غوښت ارتینو تکول. غوندې ئې ولاړ ودرولـي وو. غـوښـت ئـې پـکښـې اچـول. خان علیین مکان او نور هلکان لکه په اسونو هسـې په غوندو سوریدل. سایه د څپر وه. پاس په څپر ئې پوزي غوړه ولې وو ناګهانه تُند باد او ګـرد سـره راوالـوتـو کـانـې لوے لوے په هغه پوزي باندې د نغري غرمو ته ایښې وو هغه پـوزے ئـې راواخست کانې ورخـې ورغښتل. یو لوے غرم د نغري د خان علیین مکان په توره سپـینـه ولګید. هغه کانے مات شۀ د دۀ د ویښتو په پیوند وچولے دوه پاره شۀ. بیخوده پریوت. خـلـق ورباندې تول شۀ. ژړا غوغا شوه را وائ خست. وینې ئې پاکیزه ولے نۀ ودریدلے لتې متې ئې وسوے پرې ئې پورې کړے. په زانګو کښې ئې واچوۀ. د جهان د حاله خبر نۀ وۀ. خیر خیـرات ئـې ډیـر ورباندې وکړ حق تعالیٰ چې ګرزولے وۀ په اوومه ورځ پس ئې شعور راغـے روغ شـۀ. دریـم قـران سـن هـزار چهـل هجري چې د خان جنت مکان د مور ورا راغله په دې سـنـدرې بـلـل شـوے. خان علیین مکان کور ته راغـے. وخت د تیر ماه (۴) وۀ. [۲۳۳] تبه ئې شوه بیا د خسر کره په وادۀ ورنرغے ناوې کظیفې (۱) نیا راوسته. لویه تبه ئې وه. هیڅ د حال خبـر نـۀ وۀ. لـوټ پوټ د تبې له تاوه سره اوښتیدۀ. مور ئې بې بې انا (۲) خدائ بیامرزه ارتینو سره د دۀ سر پورې ناسته وه. چا ورته ووې دا ئې د خولې تپاک دے برستن ورباندې تینګوئ ګـوندې خولې شوے. دیو سره مصلحت وکړ برستن ئې ورباندې تینګه ونیوه. د سر د ښنو ل لـوریه ورباندې کښیناستې. دے خفه شۀ. هلاکت ورته نژدې شۀ. کۀ هر څو به ئې تلاش کاوا کـۀ بـرستـن ورخـې واخلې ممکن نۀ وو. بې خانه بې خوده پریوت. په زړۀ هومره پوهیدۀ چې وې وژے. سـاه ئـې په غړا راغله. حق تعالیٰ چې ساتۀ ارتینو سره غاؤ وکړ چې ومړ برستن ئې خـنـې واخستـه کـۀ لاس ئې وروړ مُرده غوندې بې تابه بې طاقته پروت وۀ. ډیرو ژړا ورباندې آغـازه کـړه. شـور و غوغا شوه. هغه رمق ئې چې پاتو وۀ بیا ئې په صورت کښې خور شۀ. سا ئـې تـر سـپـیـږمـو وخته. سره ئې نارې کړے. چې نۀ دے مړ ژوندے دے دے هم له خانه څخ

خهٔ خو خبردار شهٔ اما هیڅ طاقت پکښې پاتو نهٔ وهٔ. حق تعالیٰ ساتندویه دے وې ساتهٔ. پس له دولے ورخو خولې شهٔ په خود شهٔ. خلق عالم ئې وپېژاندهٔ خپله ناوې ئې ولیده ورته ناسته وه. څلورم قران سن د هجرت پوره زر پنځوس کالونه وهٔ. د پلار ئې تولد پوره په الف هجري شوے وهٔ.(۳) پنځوس کاله ئې عمر وهٔ. په تاخت د مندنړ اکاخیل کمالزي د هیتم (۴) وکلي ته لاړ وهٔ. جنګ وشهٔ. د خان علیین مکان آس پے شهٔ. دوه غشي وویشت شهٔ. تردد ئې وکړ په ډیر تالاش له جنګ زخمي ووت. دا مذکور په خپل ځائے ذکر شوے دے ځکه اختصار وشهٔ.

(۵) پینځم قران سنه د هجرت زر دوه اویا وه هغه وخت چې هرج مرج د هندوستان قید د شاهجهان وهٔ. درې څلور کاله د اورنګزیب د جلوس شوي وو. یو داروغه ئې د اټک حاکم کړے وهٔ محمد حسین (۶) نومیدهٔ. د هغهٔ په لیدلو خان علیین مکان په بیړی کښېناست وخت د اخر نمازپېښین وهٔ چې روان شهٔ. هم هغه هفته کښې لوے لښکر د مندنړ له اکوزیو هم خوک ورسره راغلي وو. بهاګو خان چې دے په اټک کښې زخمي وهٔ په بدحال خلاص شهٔ سکه ورور سید خان (۷) او داؤد ورارهٔ ئې وژلل شول. بیا په جلبی (۸) هم مات شهٔ. خیلخانه ئې قتل شوه شپیتهٔ اتیا کلي د دهٔ ورونړ تربرونو سره راغلي وو دا ننګ واړو سره وکړ. راغلل یوه میاشت د سیند په غاړه سره جنګ او تردد وهٔ. اخر شکست ئې وخوړ. د دهٔ قصد (۹) دا وهٔ چې په جالو به پورې ووځم خیر آباد (۱۰) نری (۱۱) سرائ د نوښهر دا ملکونه به ووهم. اما جالې پسر وړے نهٔ شوے شرمنده وجارووت. خان علیین مکان ووې چې مغل به ووینمه. حقیقت د دې فتحې به هم داخل په واقعه کړم. په زړهٔ یوه وي پیښه بله شي. وخت د نماښام کیدهٔ چې په دواړو سیندونو بیړی ورغله. تحویل د عقرب (۱۱) وهٔ. اوبهٔ د سیند کمې شوے وے تیزې ښکاریدے. په غایت دریاب سوړ وهٔ. ناګهانه چې بیړی د خیر آباد [۲۲۴] په برابر راغله په دریاب کښې چې لوېې لوېې ګټې وے د دوؤ تر مینځه بیړی راغله چور ماته شوه. تختې شوه ولاړه. خان علیین مکان دوه دریو سړیو سره په یوه تخته پاتو شهٔ. تخته د کاڼیو تر څنړو (۱) ونښته. اوبو کښته پورته ښوروله. هر چې د اټک په لورې پریوتهٔ هغه خلاص شول. سعادت او بهرام (۱۱) هم خلاص شول. نور خلق هم خلاص شول. هر چې د خیر آباد لور ته پریوتل هغه واړه غرق شول. محمد خان (۲) په هغه واقعه کښې غرق شهٔ. بنادي خان ووت اسونه ډیر تصدق تلف شول. خان علیین مکان په دا حال په تخته باندې توره شپه، په اټک په خیر آباد کښې غوغا چې ډوب شهٔ. پس د پهره بلکې زیات یوه جاله راغله. دوي پرې کښیناستل. د اټک په لورې و شګی ته ووتل. خو چې شګی وته ورواتهٔ وار ئې خطا شهٔ. ساړهٔ و هلاکت وته نژدې کړهٔ دا هسې یو هندو هم خو چې ووت نور ومړ. خان

علیین مکان وې چې اول خل بېړی ماته شوه بیخوده سره ولاړوم چې کنه ډوب شوم ومړم. بیا چې په تخته پاتو شوم له خانه خبر شوم چې ژوندے یم. په هغه ساعت چې ساړهٔ وریږدولم چې لاس او پښې مې سست شول له فراق و درده د فرزندانو د یارانو چې کنه واړه غرق شول پریشان ولاړ وم. له تختې نهٔ جدا کیدم (۳) د موج په مخ تلم. ناګهانه یو الستې قوت دې ما په زړهٔ کښې کښیناست واړه حس مې جوړ شول. په تخته باندې قرار ودریدم. ډاډ او مردانګې مې و ملو ته ورکوله. تخته به سره موج په شدت تمام سره بنوروله چې کنه اوس به روانه شي. حکم د الٰهي کوره خو چې زهٔ په جاله کښیناستم تخته کوزه روانه شوه. سبحان الله و بحمده. حکیم دے څهٔ کارونه کاندې. حق تعالي چې ساتلے وم له هغه هسې طوفانه ئې وساتلم. عمر مې هغه وخت پوره پنځوس کالونه وهٔ پلار نیکهٔ ور نیکهٔ بل نیکهٔ دا واړه په سور کفن شهید و ګور ته هم په دا سن سره سم لاړ دي. په پنځوس پنځوس کالونو چې راغلل شهید شول. (۴) دې ما په زړهٔ کښې ګرزیدل چې پنځوس دې پوره شول وخت د شهادت دے. مرګ ئې رابانددې تیر کړ بیا ئې په خپل قدرت وساتلم. شپږم قران سن زر څلور اویا وهٔ چې ترونو د خان علیین مکان بهادر خان او فیروز خان مخالفت وکړ امیر خان صوبه دار د کابل وهٔ. حل و عقد ئې کاوهٔ. یو ناسید عبدالرحیم نومے بې نماز لولي بچه وهٔ. (۶) د هغهٔ خان علیین مکان سره صحبت ناچاق وهٔ. امیر خان ئې په دا پله راوست چې دې د صوبه داری نقش به هومره کښېنهٔ نې خو چې خوشحال قید نهٔ کړے مدمغ (۷) سرے دے د پیښور څنې غوریه خیل قصباتې طبع هم په دا کار ورسره مصلحتي وو بادشاه د راهداریو باج هم منع کړے وهٔ. (۸) مطلب د امیر خان دا وهٔ چې کهٔ یو لوے سرے په قید کړم چې نور پرې ویروم چې راهداري منع کړم. اوکهٔ نه په بل رنګ به منع نهٔ شي. او پښتانهٔ به دا کار ونهٔ مني. بادشاه لره روان شهٔ. خان علیین مکان هم ورسره روان شهٔ. ډیر کارونه ئې ابتر وو. تر اټک چې هورته شهٔ. خان علیین مکان ئې راوجاریوست. ترونه ئې ورسره بوتلل. بادشاه لره چې ورغے بادشاه ورته ووې چې راهداري دې منع کړې ده. [۲۳۵] ورته ئې التماس وکړ چې راهداري هسې نهٔ منع کیږي خو د زبردستی عمل ونهٔ کړم. بادشاه ورته ووې چې تهٔ ولې د زبردستی عمل نهٔ کوے وې وئیل په دا سبب چې دې تا عمده زمیندار دي. بې دې تا د حکمه په هغو زبردستي کولے نهٔ شم. بادشاه ورته ووئیل چې ما حکم درکړے دے هر طور چې دې تا کار کیږي هسې کوه. په دا شان مبهم (۱) عرض ئې وکړ ځواب ئې بیاموند. د دهٔ هم په خان کښې سترګې پټې وے ترونو ئې هم پنځوس زره روپی د شمشیر خاڼ په ضامنی قبول کړے وے. د دهٔ د قید یرغ ئې سره کړے وهٔ.(۲) خو چې پښاور لره راغے دے ئې وبالهٔ. قید ئې کړ.(۳) د خان علیین مکان په

قیدفساد په ملک کښې پاخیدهٔ. د نورو پښتنو هیبت هم د مغل نه وشهٔ. راهداري ئې منع کړه خان علیین مکان عرض داشت بادشاه لره وکړ بادشاه دې په حضور وبالهٔ. صوبه دار هم بښیمان وهٔ چې بد کار مې له لاسه وشهٔ. چې دا هسې خانه زاد مې د بادشاه بې موجبه قید کړ. کهٔ دربار لره ورشي یاران دوستان لري ګوره څهٔ شي. د خان علیین مکان د مرګ په فکر شهٔ. الوے رخړ په هغو شپو ورځو کښې قتل شوے وهٔ. شهداد ورور ئې خدایار وروبالهٔ (۳) د خان د مرګ فتویٰ ئې جوړوله. یو خواجه صادق بدخشي هم په جد (۵) په دا کار ولاړ وهٔ. اخر چې خدایٔ نهٔ وژے مقید د پښاور مستجاب (۲) وغیره مغل پښتانهٔ فوځونه ورسره دربار لره ئې روان کړ. ختک هم تیار شهٔ چې مونږ به په خیر آباد کښې جنګ وکړو د هغهٔ قابو هم جوړه نهٔ شوه.. تر سینده ئې پورې کړ. کوچ په کوچ دهلي لره لاړ د بادشاه په امیر خان اعتراض وهٔ. د بل صوبه دار فکر ئې کاوهٔ. (۷) په دا مینځ کښې خان جنت نښان خلاف له مصلحته د خان علیین مکان د خدا یار خلیل د جګرام هندو په قول راغے لار ئې ودانه کړه.

(۷). امیر خان د خان علیین مکان په رنګارنګ بد وکښهٔ. په حویلی (۸) کښې د کوتوال ناست وهٔ. د خلاصي کار ئې کیدهٔ چې د امیر خان کښېل ورغلل. بندیخانه شهٔ. یو کال د دهلي په بندي خانه کښې وهٔ. بیمار غمونه ډیر وربانديې راغلل. مرګ ورته نژدې شهٔ. اجل ئې نهٔ وهٔ پاتو شهٔ. تفرقه په فرزندانو ګډه شوه. خان جنت نښان هم په مغل ورغے وې تاړهٔ. حمزه خان (۹). الله داد خان وغیره یوسفزي اکثر اکوزي (۱۰) بائیزي (۱۱) راغلهٔ د خان علیین مکان زاهوزاد ئې سیکری کاټلنګ لره بوتلل. (۱۲) سرایٔ وواههٔ. بادشاه چې دا واؤریدل دے ئې په قلعه د رنتنبور وخیژوهٔ. یو کال هورې وهٔ. د سرایٔ د ملک بندوبست نهٔ کیدهٔ. اګر چې هغه نالائق ترونه ئې مغل کښینولي وو. قماش ئې معلوم شهٔ چې هیڅ کار له دوي نه نهٔ شي. دلیر همت چې د بهادر خان خوے وهٔ ضامن شهٔ. خان جنت نښان ئې له قیده خلاص کړ بیا په سرایٔ راغے کښیناست. اولس آباد شهٔ. زاهوزاد ئې په ځائے شهٔ. دے د محمد امین خان په تلاش د رنتنبور د کوټه د خدایٔ په عنایت خلاص شهٔ. چې فتور د خان علیین مکان شهٔ په یوسفزیو خرابي ګډه شوه. بادشاه لره د دهٔ قدر ورغے (۱۳) هم د دهٔ د قید په شامت امیر خان تغیر شهٔ. مهابت خان صوبه دار شهٔ. دے ئې ورسره راوست. بادشاه په وخت د رخصت سروپایٔ ورعنایت کړ. منصب ئې لا [۲۳۶] اول ورکړے وهٔ. تري او بولاق ئې په جاګیر ورکړ. هم د دهٔ په التماس قدیم وطن په خان جنت نښان مسلم پاتو شهٔ. القصه بد قران وهٔ. حق تعالیٰ په خپل فضل و کرم اسان وربانديې تیر کړ. اووم قران (۱) هم بد وربانديې تیر دے. هغه کال چې سن زر پنځوس کالونه وهٔ خان علیین مکان د پلار په ځائے تازه ناست وهٔ. جګت

سـنـگهـ د بادشاه نه ياغي شۀ. (۲) خـان عـلـيـين مكان هم دوه زره پلي سوارۀ ورسره په مهم د جگـت سـنـگهـ په خپل التماس د بادشاه په حكم وسيله ئي سيد اصالت بخشي وۀ لاړ شۀ. د مورچـو جـنـگ شـوے وۀ چـې دے ورغـے بهادر خان او اصالت خان د شلو زرو لښكرو سره تـارا گـړهـ لره روان شو خان عليين مكان داخل شۀ. د تارا گړهـ يوه تل هتې وه. هورته تمام لښـكـر مـورچه بسته كړې وه. دوه درې شپې تيرې شوے. د هغه روان شول. تنها خان عليين مـكـان زر بـنـدوقچي ئي ورسره پريښول. جگـت سنگهـ قابو طلب د جنگ پاس د غرۀ په سر ورتـه سُـرنـا وهـلـے چـې وخـت د نمازديگر شۀ. واړه راجپوتان ورباندې راغلۀ. د خان عليين مـكـان لښـكـرې واړه تـار پـه تـار شوے. خان عليين مكان چې هغه مورچال باندې ناست وۀ. مـرگ ئـې اختيـار كـړو نـۀ خوزيدۀ. ياران ئې حسن خيل وغيره ښۀ بهادران ديرش څلويښت ورسره ودريدل. چې كار سخت شۀ. واړو لاسونه په اتفاق پرې ولگول چې دروند خان عليين مـكـان مـرگ اختيـار كـړ. واړو تـه ئـې بـد ووې چـې نـامردانو تركننده (۳) پـورې د درست هـنـدوستان مړني بهادر خان او واړه امرايان راته گوري. دې ما اول خدمت دا دے بادشاه وته پـه التماس شوم. راغلم اوس به تښتم د مړو د ژوندېو كاپې پريكوم. مرگ تر دا ژوندون بهتر دے كـۀ څـوک مـرۍ ودريږۍ. او كه نه درومۍ زۀ پاتو يم. يارانو چې دا قرارداد د خان عليين مكان وليد وخت نمابنام وۀ چې مُور ملخ (۴) په هغه مورچال باندې راغلۀ. په يو خله ئې تورې وكښې. ورترپ ئې لل. حق تعالىٰ كافران مات كړۀ. دوې واړه صحيح سلامت پاتو شول. په خپـل يـاد خـان عـلـيـين مـكـان سـل بـلـكې زيات جنگونه ليدلي وو. لكه دا جنگ وۀ هسې بل جـنـگ سـخـت وربـاندې راغلے نۀ وۀ. مگر يو دوه ځايه چې هم ډير سخت كار پيښ وۀ. حق تـعالىٰ په خپل فضل و كرم پرې اسان كړ. نقل كا چې علم او قلم او شعر د پښتونخوا تر دۀ په دا قبيـلـه كښـې نـۀ وۀ دا ئـې پـه كمال ورسول. اگر چې دا كمال ته نۀ رسي. موافق استعداد. دويـم دا چـې شهباز خان د تيراه په مهم راغـے. د ترې بولاق كدخدايان د بنگښ د لښكر سره مـغـل پـه هـغـه مهـم بللي وو. اخر شهباز خان مهماني ورته وكړه. د ترې بولاق كدخدايان ئې وبـلـل. اخـر كـتـخدايانو ورته التجا وكړه چې مونږه د بنگښه جدا كړے مغل نه به مو په اجاره واخلے. دوې په اجاره مغل نه واخستل. شهباز خان خان عليين مكان محال مذكور ته واستوۀ. تـر څوترې ورغـے په عيسيٰ خيلو ئې تاخت وكړ. بعضې هسې وائي چې زمكه د لكي چې اوس مـروت پـرې متـصـرف دے د سـارنـگـو وه. دا تـاخت ئې په سارنگو كړے وۀ. هومره مال ئې راوسـت چـې درې زره [۲۳۷] روپـۍ ئې د پنځـک حساب جدا كړے. له اولسه ئې عليٰحده كـړے. شهبـاز خـان تـه ئـې راواستولے په اجاره كښې ئې د ترې بولاق وركړے. نور ئې هسې

بندوبست وکړ چې پلار ځني رضامند شۀ. د یوسفزیو د ختکو میرخي وشوه. شهباز خان ډیر متدین وۀ لـه علـماؤ ئـې پوښتنه وکړه چې دا مرګ زمونږ د یوسفزیو څرنګ دے؟ چا ورته ووې چې ښـۀ نـۀ دے. نـور ورغـے بـادشاه نه په طریقه د اجارې په دولس زره روپۍ سال تمام واخسـت. د یـوسـفزیو د مغلو فوجدار په نوښهر کښې په استمداد د دۀ ناست وۀ. عمل ئې په سمـه په یوسفزیو ښۀ وکړ. ډیر جنګونه او جدالونه ئې په میان وشول دا دواړه چې شهباز خان پـ اجاره واخسـت هـومـره خـدمـت ئې د مغل وکړ چې دا دواړه ئې په انعام کښې بیاموندل. سالهـا د دۀ عـمل پکښې وۀ. ختـک د دۀ په طفیل د مغلو د بنګښو له تکلیفه تراوسه چې سن زر درویشـت دے خـلاص شـول. هـومـره قابل وۀ چې مغل د دۀ قابلیت وته حیران وو. چې د مغل خدمت ئې کاوۀ. دا هسې خدمت بل چا نۀ کاوۀ. چې له مغل نه آزرده شۀ بیګناه ئې آزار بیامـونـد. د کـابل صوبه په مغل اور شوه. نور ئې نوکرې د مغل ترکه کړه. تر مرګه پورې ئې ونۀ کړه. یوسفزیو سره د مغل دپاره ډیر جنګونه ئې وکړۀ. (۱) اما یو څو جنګونه مې چې په یاد وو وکښـل شي. په شلم د جمادي الثاني (۱۱) سـن د هجرت زر پنځوس وۀ شاه عباس قندهار ونیو. شاهجهان په کابل کښې کښیناست اورنګ ورغـے قندهار ئې محاصره کړ. بادشاه خان علییـن مـکـان د ډکـې نـه د بنجاره وۀ په خدمت ئې رخصت کړ چې بنجاره د اټک په ګودر راپـورې کـوه راپـسـې ئې راروانوه. په وخت د رخصت ئې د یوسفزیو له حقیقته وپوښتیدۀ. په هغو ورځو کښې دارا شکوه شهزاده (۲) په وسیله د بهاګو خان ځوے هم بادشاه (۳) لره راغلے وۀ. صـدي لس سواري منصب ئې موندلے وۀ. ظاهراً شهزاده بادشاه وته په مذکور د یوسفزیو دلښـکـر کشـي ونیـلـې وو چې د ختـک او د یوسفزیو سره غلیمي وه. بادشاه ووې چې دې تـاسـو د یـوسفزیو سره له کومه راسې غلیمي ده. خان علیین مکان ووې چې د څلورو پیړو مو سـره غـلیـمـي ده. بیا بادشاه ورته ووې په څۀ سبب مو سره غلیـمي ده. خان علیین مکان ووې چې د بـادشاه د دولت خواهی دپاره. دوې متمردي کا زۀ ئې له متمردی منع کوم. بیا بادشاه پوښتنه وکړه چې څو عالم دے په دا سمه کښې. خان علیین مکان ووې چې یوولس زره کوره بـه وي. بـادشـاه ووې چـې سـردار ئې یو دے. خان ووې نه سرداران ئې ډیر دي. بادشاه ووې کـوم کـوم. خـان ووې حبیب دے بهاګو دے ظریف دے د سوات د یوسفزیو کچے دے حمید دے کـاچـو دے. بیـا بـادشاه ووې څو سوارۀ پکښې ورځي. خان علیین مکان ووې پینځۀ زره سـوارۀ بـه پکښې پیدا شي. بادشاه ووې نه په دا سمه کښې. [۲۳۸] خان علیین مکان ووې د سـمې په عالم کښې هم څو نصو پونصو سوارۀ ورځي. بادشاه ووې خوراک ئې څۀ دے. خان ووې غـنـم ئـې پـه مـلـک کښـې شي اوربشې هم شي. بادشاه ووې غوښې د څۀ خوري. خان

ووې چې غوښې د غواړ د مېښو خوري. بادشاه ووې مېږونه پکښې شته. خان ووې مېږونه نا
لري خو غوا مېښې په ملک کښې شته. او پسونه هم پکښې وي بادشاه ووې چې ته مېږون
لري. خان ووې دې ما په اولس کښې دغه پښتونوال مېږونه شته پیدا کیږي. بیا بادشاه ووې
ته هغه ختک سره څهٔ یاستئ چې د بهیرې او د خوشاب ملک به ئې واهۀ. خان علیین مکان
ووې سره ختک ئې بولي. دوي جدا دي. (۱) زهٔ جدا یم. بادشاه ووې دې تا د دوې تر مینځ
لار څرنګ ده. خان ووې د نیلاب غاښے مو تر مینځ دے. بادشاه ووې سور په هغه غاښې تلے
شي خان ووې سور په دشواری ځي. او پیاده پرې ښهٔ ځي. بادشاه په تخت روان کښې ناست
وهٔ ورو ورو تهٔ. خان علیین مکان په جلو کښې تهٔ. دا هومره مذکور ئې یو د بله وشهٔ. نور ئې
تاکید د بنجاره ؤ وکړ سواری کښې ئې رخصت کړ. خان علیین مکان د سروپا امیدوار و
ولې سروپائ ئې ور نهٔ کړهٔ چې راوجاروت بهادر خان، غفور بیګ(۲) فیروز خان او نور
خیلخانې دا ځوانان وروستو راتلل. منتظر وو چې د بادشاه سره ئې څهٔ ردوبدل وکړ حقیقه
ئې ورته ووې. دوي وارو سره تکل د کابل کړے وهٔ. چې بادشاه پستنه د بنجاره ؤ په خدمت
رخصت کړ. زړهٔ د وارو ښهٔ شهٔ. خان ورته ووې چې زړهٔ مهٔ ښهٔ کوئ چې بادشاه فرمائیلي دي
چې بنجاره راپسې ورسوه. بیا به کابل ته تلے شي. دوي ووئیل بلا پسې د اړدو (۳) د ګرده
غباره خو خلاص شو. یو دوه میاشتې هم غنیمت دے. کور به پاتو شو بیا به په قرار
سروسامان وکړو ورپسې به خو خان علیین مکان هم سور شهٔ. دوي هم سوارهٔ شول.
شنواري ملکان ولاړ وو روان ئې کړل. شیخ عثمان ناست وهٔ. چې بادشاه پرېښے وهٔ چې اخر
ډېره تر تا تیره شي هالهٔ رادرومه. د لنډي خانې (۴) په خوړ کښې ناست وهٔ. تمامې ملکان
پېنځو اولسونو سره ناست وو. خان علیین مکان شنواري وروستل د شیخ عثمان ئې تر غا
ایستل. په دا نورو غوریه خیلو ښهٔ ونهٔ لګیدل. ولې شیخ عثمان د خان علیین مکان د خاط
دپاره دلاسه کړل. خان علیین مکان چې د جرګې په رنګ وپوهیدهٔ. و شنواریو ته ئې ووئ
چې ښه تاسو اوس درومئ د بادشاه خدمت په سر پروت دے. دوي له خدایه هم دغه و
غوښته. لاس ئې په سینه کړ پاڅیدهٔ روان شول. خان علیین مکان او شیخ عثمان سره ناس
وو. د خان هم د بادشاه تر بخشیانو پورې کار وهٔ. تر ډکې ورتلل لازم شو. (۵) د شیخه س
سور شهٔ تر ډکې پورې جریده ورغے په وخت د نمازدیګر [۲۳۹] بخشیان ئې ولیدل ورخ
رخصت شول. شباشب غریب خانې (۱) لره راغے. د غریب خانې (۱۲) نه په ارغل کور
راورسید. میر بخشي (۲) د اټک فوځدار وهٔ. دوه درې ورځې پس میر بخشي لره راغے
بادشاه حکم ئې ورته ووې خان علیین مکان او میر بخشي سره ناست وو چې رحمت خان د

بادشاه له لوربه جريده راغے . خان عليين مكان د مير كره پاتو شو . تر گودره په استقبال ورغے راۍ وست. خان عليين مكان او رحمت خان سره دواړو مير سره اشنائي كړې وه. وې وئيل چې بادشاه حكم كړے دے چې په سُرعت درومه. د نذر محمد خان (۳) كورونه چې په لاهور كښې دي په سُرعت ئې راولئ. چې نذر محمد خان (۴) لره ئې ورستوم. خان عليين مكان ته ئې ووې څو زۀ له لاهوره راځم تۀ د بنجاره ؤ خدمت كړه چې راشم سره به كابل لره دروموخان هم د دۀ خبره قبوله كړه. دوه مياشتې پس كم و بيش رحمت خان د نذر محمد خان كورنو سره راغے . خان عليين مكان اټک ته ورغلے وۀ پجد شۀ چې وعده مۀ خلافوه راسره درومه، ورسره روان شۀ. تر دا مينځ خان عليين مكان لا كور وۀ د بهاگو خان خوي چې منصب بيامونډ تابين د مير بخشي شۀ. مير بخشي په دۀ اعتماد وكړ د شهزاده په سفارش چې هر كاه د بهاگو خان خوے دې تا تابين شۀ نور به يوسفزي د هزارې د غلا نه لاس كوته كا. د حبيب خان او د بهاگو خان سره غيرت وۀ. له دغه غيرته حبيب خان خپل غلونه واستول. د بهارې د سراۍ نه عين د بادشاه د اړدو د بزازانو چې ورپسې ئې رخت وړۀ ډير رخت ئې پټ كړ. په مير بخشي اور ولگيدۀ. د بهاگو خان خوي ته ئې ووې چې تۀ دې ما سره او دا هسې كارونه كيږي. زر كړه پلار ته خواب ورستوه چې رخت راوجارباسي. كۀ هر څو به د بهاگو خوي پلار ته كاغذونه استول پلار ئې حبيب وته زارى كړے پاتو ئې روزگار بنكاره وۀ. هيڅ كنائش نۀ شۀ. رخت بيارته نۀ راتۀ. د بهاگو خان خوے بې اعتباره شۀ. مير بخشي له دې بابه خان عليين مكان ته ووئيل. خان عليين مكان ورته ووئيل كۀ تۀ بادشاه لره وكښے چې يوسفزي دې ما په جاگير راكا. زۀ به خصمانه وكړم. او كۀ نه دا لا څۀ ده ورځ په ورځ به څنې نورې چارې ووينې چې يوسفزي به درسته هزاره ويجاړه كا. ميربخشي هغه ورځ چې خان عليين مكان د رحمت خان سره روانيدۀ بادشاه لره عرضداشت ئې وكړ. په كابل كښې د بادشاه په حكم جعفر خان هغه عرضداشت د مير بخشي و ماته راكړۀ. ما ولوستۀ پكښې ليكلي وو چې د هزارې مقدمان هم د يوسفزي سره ساز باز لري. د خوشحال غوندې يو زميندار بويه چې په دا كار له ما سره داخل وي. چې د دوي د ساز و باز لار وتړلے شي. او بل خوشحال تعهد كا چې كۀ يوسفزي دې ما په جاگير شي د غلا د متمردى نه به ئې منع كړم. چې خان عليين مكان د رحمت خان سره كابل ته ورغے بادشاه ته ئې مجرا او ملازمت وكړ. په كهتيږي ئې داخل كړ. نور مذكور هغه ورځ ونۀ شۀ. په دويمه ورځ ئې چې د خيلخانې ياران او منصب داران د بادشاه تر نظره تيرول خان عليين مكان د څنگه ئې ولاړ وۀ. بادشاه جعفر خان ته ووئيل چې مير بخشي چې عرضداشت كښلے دے. [۲۴۰] د دولت خان سره دے

ترې وغواړه. ردوبدل ورسره وکړه. حقیقت ئې په عرض ورساوهٔ. جعفر خان د غسلخانې نه
راووت و خان علیین مکان ته ئې ووې دیرې ته ورسره راغلے ورننه ووت. د میر بخشي
عرضداشت ئې د خان علیین مکان په لاس ورکړ. وې لوست خواب ئې ورکهٔ. انشاء الله تعالیٰ
دا خدمت به خدائ اسان کا. په هغه ورځ ورغے بادشاه ته ئې ووې بادشاه حکم وکړ چې
یوسفزي د خوشحال په انعام ورکانې. په دا خبره علي مردان خان له خان علیین مکان ډیر
آزرده شهٔ. په دا سبب چې یوسفزي د دهٔ په انعام کښېوو چې له دهٔ ئې تغیره ول و خان علیین
مکان ته ئې ورکول. د دهٔ کمے کیدهٔ. بادشاه ته ئې وونیل ولې بادشاه د دهٔ خبره ونهٔ منله. خان
علیین مکان یو څو ورځې په کابل کښې د خپل مهم سازی دپاره پاتو شهٔ. خیلخانې ورته ووی
چې بادشاه فرمائیلي دي چې فلانه د وړاندې رخصت کانې. خان ووې ښه. دوه درې ورځې
پس د رخصت دپاره ورغے خیلخانې د رخصت دپاره دواړو یارانو سره ودریدے. بادشاه
سروپا ورعنایت کړ دے امیدوار د اس وهٔ ولې اس ئې ور نهٔ کړ څو ورځې پس د کابل
راروان شهٔ. جلال آباد لره ورغے جالې لره ئې ئ جلودار له کابله رخصت کړے وهٔ. جالې
تیاره وه. طعام ئې وخوړ په جاله کښې د څو خلمیو سره کښیناست، شباشب په ډکه (
داخل شهٔ. د سیند په غاړه څو کوره شنواري وو جاله ئې هورته وویسته. مړ ئې حلال کړ طعام
ئې وخوړ د سبا نمونځ ئې وګزارهٔ. جاله ئې روانه کړه. غرمه وه چې تر تنګي راووتل، میچنې
(۲) لره راغلل. هورته ئې جاله وویسته په استراحت بدني مشغول شول. (۳) څهٔ آبریزي ئې
وکړه. بیا ئې جاله روانه کړه و اشنغر (۱۳) په برابر راغلل. هسې سیلی راوالوته چې جاله ئې
په خانے ونیوه. اخر په ډیر مښود (۴) ئې و اګرې (۵) ته وویسته. د اګرې کلي ته ورغلو. (
طعام ئې تیار کړ نمانښام ئې طعام وخوړ جاله ئې روانه کړه. باد هم قرار شوے وهٔ. د پړانګ
(۷) په کلي کښې ئې بیړی طلب کړه. ولې بیاموندل نهٔ شوه.(۸) نمازخفتن نمونځ ئې هور
وګزارهٔ جاله ئې روانه کړه سبا په نوښهر راغلل. د نوښهر په ګودر ئې پورې لورې ته وویست
(۹) نمونځ د سبا ئې وګزارهٔ (۱۹) د دریا خان د خیریته (۱۰) خبر شهٔ. د دریا خان د خیری
خبر ئې و کورونو ته ورساوهٔ.(۱۱) و کور ته ئې راوست. د نوښهر سازنده ئې په جاله کښې
کښیناوهٔ جاله ئې روانه کړه. څو کور ته نژدې ورسیدل یو کس ئې په نظر کښیوت. چا و
چې دا شیخ عثمان دے خان علیین مکان ور ووت شیخ عثمان ئې ولید یو زمان کښیناستید
حقیقت پرسي ئې سره وکړه رخصت شول. په جاله کښې خان علیین مکان کښیناست ک
ته راغے .فرزندان ئې سخت ملامت ولیدل. چې کور ته راغے د ظریف یوسفزي خطونه ر
راغلل په دا مضمون چې ما هم دې تا لار کتله. ښه چې د خیریته سره راغلے بهاګو خان ایو

راتـه ودرولـے دے ولې دے په اولس ورانے ګډوي کۀ تۀ هومره مهرباني وکړے چې د لښکره سـره تـر جلبی پورې راشـے دې ما خصمانه به وکړے. نور بهاګو خان به له خپله فعله شرمنده شـي اوس بـه ئـې [۲۴۱] لـه میـانه وباسو. او هر چې فرمائے اوس به هم هغه قبلوؤ دا کښل د ظريف خان، خان علیین مکان ته راغلل د ظریف سره پخوا هم قول قرار د نیکی وۀ. دا کار هم د خـان علیین مکان په سر وۀ. په دا دواړه سببه په تلل مصلحت وۀ. ظریف لره ئې وکښل چې خـاطر جمع لره سبا ورځ به جلبی لره درشم حکم ئې په هغه زمان د اولس د لښکر وکړ سبا روان شۀ. جلبی لره ورغے. لښکر د اولس ورپسې ورسېد. اولس ئې په هغه ورځ کښې سقیم احـوال وۀ. د اوړو سیر ئې د سرکار وفرمایۀ. چې تمام لښکر ته یو سیر اوړۀ یوه پیسه د غوړیو د سرې په سر ورکوي. (۱) د جلبی ماشې زوروړ وو (۲) وخـت د پشکال وۀ. د سیند هوا ښه وه. کوچ ئې وکړ بازار (۳) لـره ورغـے ظریف او رحیم داد او حبیب خان د کدخدایانو سره هم ورتـه راغـلـل. ورتـه ئې ووې اوس هر چې ستاسو صلاح وي زۀ به هم هغه کړم. کۀ وایئ جـوړ لښـکـر دے. پـه بهـاګـو خـان ورخیژئ کۀ څۀ نور مصلحت کانئ هم ستاسي رضا. خان علیین مکان ولیدل چې د وراني مصلحت ئې نۀ خوښیدۀ د دوي په لار په رائ پسې لاړ (۴) او دلتـه څـو ورځـې پس هغه کار ئې للو پتو کړ کور ته راغـے څو ورځې پس بادشاه هم له کابله راغـے خان علیین مکان ئې له حقیقته وپوښتیدۀ چې د یوسفزي سره دې څۀ وکړۀ. عرض ئې وکـړ چې پـه حضرت روښانه دي. د اولس کار دے په تدریج به وشي. اخر ئې وفرمائیل چې څـو پـس بـه وشـي؟ خـان عـلیـین مکان ووې سږ کال به د دې مهم سر و نوک شي. بادشاه د تـوپـچیـانو پوښتنه وکړه خان ووې توپچیان کم لرم. بادشاه وفرمائیل دا کار د بادشاهی دے هر ګاه چې تۀ سوریږے و بخشیانو وته وکښه زر توپچیان به درلره راستوي. خان علیین مکان سـلامـونـه وکړل. ردوبدل نور هم وشۀ کۀ واړه کوښے شي په طول انجامیږي. بادشاه پورې وړت. میـر یـحـیيٰ ئې تغیر کړ جمشید چیله (۵) ئـې د اټـک فـوځدار کړ خان علیین مکان بـادشـاه لـه شـمس آباد (۶) نـه راوجـارویسـت ورتـه ئـې ووئیل چې خاصګي فیلان په دریاب راپـورې کـړه پـه سُـرعت راغـے هاتیان ئې د بادشاه همروزه ورپسې پورې کړل. خان علیین مکان کور پاتو شۀ. بهاګو خان چې د بادشاه د اړدو اسونه په غلا بیولي وو سرې ئې ورواستوۀ چې رخ نۀ دے دا اسونه بیارته راکړه. اثر ئې ډیر پرې ونۀ کړ بلکې سوارۀ ئې روان کړل چې ورشـئ د بازار د کلي مال راولئ. سوارۀ ئې راغلل د بازار د کلي مال ئې ونیو جزوي مال غوا میښـې ئـې ونیوے. یو څو سرې په کلي کښې وو جنګ ئې وکړ. یو ښۀ سور ئې په هزار حیله پریوست. مال ئې بوت. هم هغه ورځ خان علیین مکان (فوځ کړے وۀ د سقلاب کلے ئې

وواهـهٔ. خـان عليين مكان) (۷) فـرمـائيـلـي وو چـې بـند مهٔ كانئ. قتل هم مهٔ كانئ- ارتينې او هـلـكـان ئـې ډيـر پـه لاس كـښيوتل. ولې بند ئې نهٔ كړهٔ او نهٔ ئې قتل وكړ. حيوانات او لوټ هر چـې پـه لاس كـښيـوت اولـجه ئې وكړه. په خيريت راغلل. نور د خان عليين مكان او د بهاګو خان سره هنګامه [۲۴۲] د غليمي ګرمه شوه. بل ګزار خان عليين مكان پخپله سور شهٔ. تمام لښـكر ورسره وهٔ ورغـے تر هنډه (۱) هـورتـه ئـې پخونه وكړه يو څو سوارهٔ ئې ورواستول چې تـاسـو ورشـئ چيغه درپسې راولئ. چې په پخوني راوخيژي ورپسې به پاڅو ګوندې قتل عام وشـي. بهاګو خان هم پكښې ومرې. سوارهٔ ورغلل ورپسې راووتهٔ. بهاګو خان هم ورسره وهٔ نـرے نرے جنګ ئې كاوهٔ سره تلل نمابنام شهٔ. تر خان عليين مكان پورې چيغه را ونهٔ رسيده. يو بنهٔ خلمے د ختـټک د لورې د نازو خان نمسے په ټوپـک وويشت شهٔ ېرې ووت هم هورې پاتو شهٔ. راواخست نهٔ شهٔ. هغه سوارې هر ګوره بې روخه وشوه كهٔ هغه سوارې مناره يا ټهنډه كـوهـے وهلے وے ضابطه به ئې هم بنه ناسته وه. ولې د كلي په وهلو په مصلحت كښې بهادر خـان خـلـل ګـډ كـړ. بهـادر خـان بنـهٔ وهٔ ولې په وخت د هلې به ئې حركت وكړ. زړهٔ ئې ډير جـنـګ طـلـب نـهٔ وهٔ او پـه خپل ذات هم نصرت جنګ نهٔ وهٔ. هغه وارخطا شهٔ. بيا خان عليين مـكان پلي سوارهٔ د غفور بيګ سره كړل. د مير جارو (۱۱) لـره سور شهٔ. علي الصباح په مير جارو ورغـے په باړه (۱ ب) ئـې لاس ولګاوهٔ. د باړې عالم ئې پاڅوهٔ لور د لوره چيغې ورغلے غـفـور بيګ خپـل عـالم راوجاريوست بنهٔ ئې وكړل. بل په دا سبب چې لا د شپې چې د خان عـلـييـن مكان لښكر بيا په يلغار تهٔ د مندنو څو سوارهٔ په قزاقي راووتل په شپه د ختټكو د لښكر د پياده ؤ نه چې د لښكر په دنبال وو ئې وپوښتيدل چې ستاسې لښكر چرته ځي. وې وئيل مير جـارو لـره وئيـل ئـې تـاسـو څوک ياستئ وئيل ئې مهمندزي يو. دې تاسو د لښكر سره به څو وي. (۲) اخر چې بنهٔ تحقيق ئې وكړ شباشب په تمامي اولس ئې خبر وكړ چې لښكر د ختټكو درغـے ميـر جـارو لره په سبا د درست اولس لښكر هغې مير جارو لره ورسيد. كهٔ غفور بيګ خپـل لښـكـر راجـارويستلے نهٔ وے قباحت وهٔ. په مير جارو حمله هم تشه لاړه. يو څو ورځې پـس خـان عـلـيين مكان پخپله سور شهٔ ايلغار ئې په بوقې (۳) پـورې وكړهٔ. بنادې كمالزے په بـوقـې پـور كښې وهٔ. د سورو دستے و عين د بوقې د كليه مال راواخست جونه ارتينې په رود كښـې وے نـمـرې ئـې ولـل. د هغو جونو نمرې كهنه مهنه وو. هم خلميو راوړهٔ ولې بندې ئې رانهٔ ووست. (۴) پـاره ميښې غوا ئې هم راوستے شوے يو اصيل كمالزے يو ګوجر په هغه ورځ ومـړل. د خـتـټـكـو د لښكر يو څينے خلمے د لاچې د سينو په غشې ويشتلے وهٔ. هغه كار په دا طور تير شهٔ. لښكر د مندنو په مرغز كښې وهٔ چې دا خبر پرې وشهٔ ډير خجل شول. اول هم

دلبنکر په مدد وو چې دا کار پرې وشۀ. لا د لبنکر په کار سر گرم شول. لبنکر ئې جمع کړ. د ذوالحجې په اوولسم د مهابت پور [۵] د لوریه تر مغلکیو [۱۵] پورې راغلۀ. نمازپښین وۀچې رجاروتل. خان علیین مکان هم ورته جمعیت تیار کړے وۀ چې دوي وجاروتل ورپسې ئې لنګ کښېښ. خان علیین مکان راپورې وۀ دفعه په دفعه ئې پلي سوارۀ پورې ایستل. د ختټک لبنکر ډیره خامي وکړه چې به پورې وتل هسې به پسې تلل. [۶] استاد ئې ونۀ کړ [۲۴۳] خان علیین مکان ورپسې پورې ووت چې تنبې ئې جوړې کړے روان شۀ کۀ هر څو ئې سرې پسې استول چې ودرېږئ هیڅ اثر پرې نۀ کېدۀ. بد عادت بنادي ګے سپر شۀ. هغه هومره لبنکر پسې چې اووۀ سوه اتۀ سوه سوارۀ پینځۀ شپږ زره پلي به وو کم و بیش سل سوارۀ ورپسې ورغلل جنګ ئې آغاز کړ خان علیین مکان لا تر سیند راپورې وۀ، تاب ئې رانۀ وړ چې چې د هغو سوارۀ پرې جاروتل د دیو مخ ئې راوجاریوست. په دا مینځ کښې خان علیین مکان هم پورې ووت چې نظر ئې وکړ ډیر قباحت شوے وۀ. سوارۀ په دوړ راتښتیدل د خان علیین مکان سره همګي شپږ سوارۀ وو تار په تار ئې ور واستول چې دا نامردان تښتي راوجارباسئ. کۀ هر څو به ئې ورته وئیل مخ چا نۀ جاریوست. دا سوارۀ ئې هم له لاسه ووتل. یو نقارچي یو قرناچي ورسره سوارۀ وو. درې څلور نښان بردار ئې وړاندې وو. وې وئیل ورډرومئ. یوه کنده تر مغلکیو په هورته تر هغې چې ورپورې ووت خان علیین مکان او غلیم سره روبرو شول. حکم ئې وکړ نغاره ئې وکړه. قرنا ئې پوړ واهۀ. دۀ هم اس ته مهمیز ور کړ مهر ئې د غلیم وجاریاسته بوچه خان کټي خیل ئې هورته په نظر کښېوت. ژغ ئې پرې وکړ چې وُله لاس ئې نۀ نیوۀ ښۀ ګزار ئې وکړۀ. رحمت پرې باندې. هسې شخص ئې په ورانۀ وویشت چې غشي ئې ور پکښې کښیناوۀ هورته یو لور بل لور خان علیین مکان نظر وکړ چې څوک سوارۀ به له ما سره ملۀ وي اوس وخت د تلاش دے. هر څو چې وې یو وار به ئې یک جسو پرې ګډ کړو. کۀ ئې نظر وکړ تر درې څلور سورو ئې په نظر کښې نۀ واتۀ. زر ئې نقارچي ته اواز کړ جلو ئې راوجاریوست خپل عالم ئې وړاندې کړ چې څۀ خو راتیر شۀ هورته لسي دولس سوارۀ ورسره ملۀ شول. چاته ئې ووې چې نښانونه واخلئ وړاندې کړئ و چا ته ئې ووې چې وروستو خبردار اوسئ. په دا طریق ئې جاروتل وکړل. په دا هومره ورتلل د خان علیین مکان د ختټک د لبنکر ډیره اساني شوه. یو دا چې خان علیین مکان ورغے بیکه اکثر تر سینده پورې وتل. بل دا چې کۀ دوي ورغلے نۀ وے د ختټکو د سورو تولّه به سره ونۀ شوه. په مغلکیو برابر چې خان علیین مکان راغے دلته ډیر سوارۀ ورسره ملۀ شول بیا ئې پیر پرې وکړ. ولې غلیم ډیر انبوه وۀ. دا څوانان ئې بیا منع کړل. څۀ زدن کشتن ونۀ شۀ. [۱] د غلیم

هیبت پـه هـغـه جاروتو وشهٔ. نور په قراره باندې (۲) تر لاچي (۳) پـورې راغـے. غليم چې تر لاچي پورې راغـے خـان علـيـن مـكان تر لاچي راپورې د ټوپكو ګزارونه ئې يو ځو وكړل. وخت د نمابنام شهٔ راروان شول. بيړى په ګودر نهٔ وے. خان علیين مكان د بير په زړه مينه په جالـه راپـورې ووت. بهـادر خـان او غفور بيګ او دا نور ياران په نوبنهر راپورې وتل. ځنې يـاران د پيـر پـه كـلي پاتو شول سبا په خپله بيړى راپورې وتل. يوسفزيو شپه [۲۴۴] په بانډه كښې تيره كـړه. سبـا روان شول. خان علیين مكان هم سور شهٔ د دوي د لښكر ئې هم ننداره وكړه. لښكر ئې سهل ورښكاره شهٔ. نصيب هسې وهٔ (۱) كـهٔ ديو ځوانانو شتاب كړے نهٔ وے اميد دے چې به فتح شوے وه. ولې شوې وو بل رنګ به نهٔ كيدل. (۲) پس له دې جنګه قليچ خان (۳) لـه كـابله پيښور لره راغـے خان هم ورغـے فكر ئې دا وهٔ چې اوس يوسفزيو يو وار تير كړو اوس وار دې ما دے. كومك راكړه. خپل اولس به هم ټول كړم. انشاء الله تعالي هسې كـار به وشي چې ياد به پاتو شي. شيخ عثمان ترې وير جوړ كړے وهٔ نواب ته ئې وئيلي وو چې د يوسفزيو د مهم كار ګران دے. نواب دې دا آوازه وكا چې يوسفزي د فلانا نه تغير شول. زهٔ بـه ئې كدخدايان نواب لره راولم. يوسفزي هم د خان علیين مكان د لاسه تر پوزې شوې وو پـس لـه دغه جنګه يو فوځ ئې د حكيم خان سره كړے وهٔ. د خضرزيو (۴) په نواحي ئې پڅونه كـړي وه. د امـازي په لار د كمالزي د وژليو درې كلي ئې راوړے وے (۵). بنـادي خان هم له هـغـهٔ پـخـوا د ځـو سـورو سـره لاړ وهٔ. يو ځو ګوجر ئې هم وژلي وو. ځلور كلي ئې د هغو هم راوړے وے. يـوسـفـزي پـوهيـدهٔ چې غزا وشوه. كهٔ ډير لښكر مو راټول كړو ورغلو باوجود شـكـست د خټكو مو يو سور هم پرې نهٔ ويست. يو ځو پياده رنځور غاړې رانه پاتو شول چې مـونـږ ډيـر لښـكـر كوؤ دا هومره به دے مونږ تاخت و باخت كا. بلكې مصلحت دا وهٔ چې دا واړه بـه پـه نـنواتے خان علیين مكان لره راشي. د شيخ عثمان په خبرو ډير ګمراه شوي وو ګنه دا لښـكـر به ئې هم كړے نهٔ وهٔ. شيخ عثمان په كار ډير د حسد له مخه په جد وهٔ چې كهٔ په څهٔ طـريـقـه شـوے چې ما د يوسفزيو او د خټک تر مينځ دښمني اچولے چې دا كار د خان علیين مكان برهم شوے چې تر بادشاه پورې ئې مجرئ ونشوے. القصه چې خان علیين مكان پښاور لـره راغـے هم شيخ عثمان ورته ووې چې فلانا دې تا په باب نواب لره فرمان راغلے دے دې تا اضـافـه چـې شـوې وه ظاهراً تغير شوه د يوسفزيو خدمت ئې له تا تغير كړ صاحب صوبه ته ئې وسپـارهٔ. خان علیين مكان ورته ووې چې فرمان تا ليدلے وهٔ؟ شيخ عثمان ووې هو ما ليدلے وهٔ چې دا هسې كښلي وو خان علیين مكان حيران پاتو شهٔ چې بارې ما د يوسفزيو سره ډير زيان (۲) افـراط تـفـريـط كـړے نهٔ وهٔ. هر ګاه چې شاهجهان دا هسې بې موجبه بې تقصيره دا هسې

کار کا پس بهبود هم دا وۀ چې له دې کاره خلاص شوم. نور ئې له دې حالته چاته هیڅ نۀ وئیل چې فرمان رانکاره کالې. د شیخ په خبرو ئې باور وشۀ چې په څو به په سپینه زیره دروغ وائي. ولې د زړۀ گمان ئې نۀ کیدۀ چې شاهجهان هسې بادشاه نۀ دے. دا کار هسې به ئې نۀ کاوۀ. جلودار د فرمان د ورستولو دپاره په دربار دے هر رنگه خبره چې وي جلودار به ئې راوړي. خان علیین مکان تر یوې میاشتې په پښاور کښې پاتو شۀ. په قیاس هسې پوهیدۀ [۲۴۳] چې هم شیخ عثمان د قلیج خان و متصدیانو وئیلي وو (۱) چې دے مۀرخصتوئ. یو مطلب ئې دا وۀ چې مبادا یوسفزي بیا سواري وکا د دۀ مجرا وشي. د یوسفزیو ملکان ئې راوستل خپله مجرا ئې وکړه. یوسفزي د خان علیین مکان د ورکولو دپاره راغلل. گنه قدم به ئې د پښاور په لوري ایښے نۀ وه. شیخ عثمان هسې مکار عیار وۀ چې تر مغل پورې دا مجرا ئې کړه چې ما ملکان درلره راوستل او یوسفزیو ته ئې دا وې چې زۀ د سرېن توب ننگ کوم. وینئ ستاسو دپاره څۀ چارې مې وکړے. دا ئې په دا منت بار کړۀ. په وخت د رخصت قلیج خان خان علیین مکان دربار ته وبالۀ حقیقت ئې د دۀ او د یوسفزي مفصل ترې وپوښتیدۀ. هر چې سرگزشت وۀ ورته ئې بیان کړ. نور ئې رخصت کړۀ کور ته راغے د جلودار لار ئې کته. ولې د قلیج خان په خبرو هم وپوهیدۀ. دوه ورځې پس جلودار راغے هر چې شیخ عثمان وئیلي وو هغه واړه دروغ، هر څۀ ئې په ځائے وو. بلکه بادشاه د خان علیین مکان د جنگ له تردده واوریدل اضافه ئې هم مرحمت کړه. په دا مینځ کښې شاهزاده هم راغے. قلیج خان وته بادشاه د خان علیین مکان له بابه کښلي وو چې د خوشحال په خصمانه اوسه. شیخ عثمان هغه برعکس ظاهر کړي وو لکه چې وکښل شو. بادشاه زر بندوقچي د خان علیین مکان په کومک فرمائیلي وو. خان علیین مکان عرضداشت وکړ چې زر بندوقچي را دې شي هرگاه چې ئې په کومک احتیاج شي. صاحب صوبه دې کومک راکوي. بادشاه هغه عرضداشت و شاهزاده ته ورکړے وۀ. په وخت د ملازمت شهزاده خان علیین مکان وته ووې چې دې تا عرضداشت بادشاه په ما سپارلے دے. هر څو کومک چې دې پکار وي اوس به درکړم. شهزده چې پښاور لره راغے خان هم ورسره وۀ. لس پنځلس ورځې چې وشوے کومک ئې وغوښت. شهزاده ووې چې اوس دا التماس موقوف کړه. چې د کابله راوجاروځم هر څو کومک چې غواړے در به ئې کړم. سروپای ئې ورکړۀ. د ربیع الثاني په درویشتم کور ته راغے. شیخ عثمان بیا له فعله نه آوښت. بیا ئې یوسفزیو لره کښل وکړل چې یو څو ملکان راشي. بیا تیار شول ورروان شول. بیا په شپږ ویشتم د مذکوره میاشتې یو فوځ سوارۀ خان علیین مکان د عنایت خان او د شمشیر بیگ سره کړل او شهباز گړي (۲) ته ئې

سوارهٔ کړل. په شپه ئې پښتونه وکړهٔ. سبا ئې پاره مویشي ونیول. هپه ورپسې راغله. د بنادي
کمالزي خوړے زینو ډنګر زي په ټوپک وویشت ومړ. (۳) یو څو نور سرې هم زخمي شول.
د خټکو یو خوان هم زخمي شهٔ. شمشیر په توره زخمي شهٔ. ولې روغ شهٔ. دا حقیقت ئې
عرضداشت کړ و دربار ته ئې روان کړ. په دا اثنا پس له یوې میاشت خان علیین مکان پخپله
سور شهٔ چې د کمالزیو په مال او په بدرقه دوړ وکا. گنبد (۴) سره ئې پښتونه وکړه. مال ئې
غرمې پورې رابنکاره نهٔ شهٔ. یارانو مصلحت د جاروتو وکړهٔ ولې خان ووې چې یو ساعت
وگورو چې څهٔ دي. پس له غرمې مال مویشي د شهباز گړې نه راووت. نغاره هم وشوه ولې
خان هیڅ نهٔ پوهیدهٔ چې څهٔ نغاره ده چا هسې [۲۴۲] ووئیل چې هرگاه چې مال مویشي
راوخي تل نغاره کا. پس له یو ساعت عالم سوارهٔ پلي په نظر کنهوت. خان علیین مکان غفور
بیک ورسره د گنبد په ډیری ناست وهٔ ننداره ئې کوله. مومن غل، وحدت، محموتے، بوړے،
ډنګر زے شاه بیک ورکزے هم ورسره ناست وو. بهادر خان هم د نورو خلمیو د خیلخانې
سره په گنبد کنبې ناست وهٔ. دا نور عالم تر پونصو زیات سوارهٔ پلي به وو. د باړه په ناله (۱
کنبې پټ وو. بوړے ډنګرزے خان ورواستوهٔ لا ئې دا عالم په ناله پټ کړ. کهٔ ئې کاتهٔ څهٔ
سوارهٔ پلي چې رابنکاره شوي وو زمونږ ملک ته روان شول. غفور بیک ور بے تاب شهٔ خان
ته ئې ووې دا عالم البته زمونږ نه خبر شوي دي. عین زمونږ په خیال راوتلي دي. سوارهٔ پلي
دا دي راغلهٔ. رادرومه پاخه مونږ به هم جوړ کړو. ور روان به شو. بنه به دا نهٔ وي چې د
خائے ناست پاتو شو. خان کهٔ هر څو وے چې څخو وار وکړه ولې دهٔ ډیره بیتابي اغازه کړه.
خان هم سست شهٔ. اخر شاباش ئې په مومن د قهره وکړهٔ چې خیر دے مونږ دا هومره لښک
ناست یو او دوي به راباندې رادرومي تر دا څهٔ بهتر هم دا خائے په نیت و باز و شاه بیک هم
څهٔ ووې. غفور بیک پاخیدلے وهٔ بیا کنبیناست، کهٔ هم هسې د غفور بیک په مصلحت
پاخیدلے وے نور قباحت وهٔ. حق تعالیٰ چې هغه کار په خپله اراده کړے وي نهٔ بدلیږي.
زمان کنبیناستل. هغه سوارهٔ پلي هم د باړې په غاړه ودریدل. نور عالم هم څوک ورپسې
راغے. یو خائے شول، وخوزیدل. د بابا رتا لار ئې (۲) ونیوه. کهٔ خان نظر وکړهٔ د دیو ډیر عا
د پنجلهیر (۳) په لاره له څنګله هم راووت. تر دا عالم نه ئې ډیر هغه عالم وهٔ او سوور ئې
ډیری و سر ته واچولے هاله خان راکوز شهٔ. دا خپل عالم ئې له نالې راوویست. پلي ئ
وړاندې کړهٔ روان شهٔ. سوارهٔ د وړاندې وو چې د بابا رتا تر ډیری تیر شول. د سورو او د د
مقابله وشوه. سوارهٔ ئې څهٔ خو ودرول. خان وفرمائیل نښانونه ئې پرانستل. نغاره ئې وفرما
چې اواز د نفیر وشهٔ نښانونه ئې ولیدل. شکست ئې وخوړ. اول حال جانم امازے د جنجوها

بولاق سره سر په سر شهٔ. او جانم ومړ. هم جنجوها نور ځوانان سوارهٔ پلي د کمالزيو په مخه کښېناستل. خان د بابا رتا و ډيرى ته وخوت. ننداره ئي وکړه. په غليم کښې حال نهٔ وهٔ. هالهٔ ئي پياده ورپسې حکم کړل. خان نيزه واخسته. جلو ئي ورپسې وکړهٔ. قصد ئي دا وهٔ چې کهٔ غليم په سورو گزار وکا په دا مينځ چې پيروگے ئي په نظر کښيوت. زار ئي ورته وکړهٔ. په خاطر ئي راغلل خلاص کړے بويه کهٔ ئي وليدل حکيم خان په توره وهلے وهٔ غوږ ئي زوړند وهٔ. زر غفور بيگ پرې راکوز شهٔ پروت ئي په توره وواههٔ. هالهٔ خان روان شهٔ. وړاندې خلمي ولاړ وو گزارونه ئي وکړل خان اس پرې لغت کړ. [۲۴۷] په نيزه ئي وواههٔ هغهٔ سر کوز کړ. دستار ئي له سره په نيزه واخست شهٔ د سر ځرمن ئي په وينو سره شوه. دهٔ غشے په لينده کړے وهٔ غشے ئي له لاسه پرې ووت. نور ئي وټکاوهٔ چې خان په هغه باندې معطل شهٔ ځنگل ورنږدې شهٔ. هغه ملک خان په ښکار ليدلے وهٔ چې ځهٔ ملک وهٔ. زمونږ د ځوانانو اسونه هم زخمي شوي وو. ځوانان هم ستړي وو له ډيره تردد ئي جلو ونيوهٔ اوبو لره ورغے اوبهٔ ئي وځښے. نور کور ته روان شول. تر صلو زيات تر دوه سوه کم يوسفزي قتل شول. اکثر پکښې ښهٔ ښهٔ ځوانان ومړل. کور ته په صحت سلامت راغلل. يو جنجوها له ديو ومړ. يو څو خلمي د اولس زخمي شول. خان دا واقعه يو څو ورځې پس په هر لوري شهزاده وته و امرايانو وته وکښه. سعدالله خان او خليل خان (۱) لره ئي هم وکښه. د بادشاه په عرض ورسيده. مجرئ د خان وشوه. شهزاده سروپاى ورته راواستوهٔ. يوسفزيو سره ننگ وکړ يو مياشت پس ئي لښکر سره تهول کړ راغلل په جهانگيري ئي ميشته وکړه. پوړې راپورې لس پينځلس ورځې د توپکو جنگ وشهٔ. اخر يوسفزي په تنگ شول لاړل. په دا راتلهٔ لا شرمنده شول. يومحموتے خلمے راپورې د ختک له لوريه په توپک وويشت شهٔ شهيد شهٔ. او تر صلو سړي د پورې زخمي وو. ولې کم و بيش پکښې ومړل. خيمه ئي راوړ شوه په هزار فضيحت کښې لاړل. خان به پورې وتلے وهٔ. په قزاقي (۲) جنگ به ئي کړے وهٔ ولې خبر دوباره راغے چې يوسفزي د خان تغير شول. په دا سبب په دا کار کښې سستي واقع شوه. بل شيخ بزگوار شيخ رحمکار د خان د پورې وتو حکم نهٔ کاوهٔ. مصلحت ئي هم هسې وهٔ چې نهٔ پورې وتے. فتح پخوا شوې وه. دوه سوه کسه د دوې مړهٔ وو. دوي لره خوړيدل ضرور وو. چې راغلل زمونږ ځهٔ ضرور وهٔ. پس د يوسفزيو له تلو، دوباره خبر راغے چې بادشاه يوسفزي بيا و خان ته ورکړهٔ. د سعدالله خان د خيلخانې پروانې هم راغلے. مجرئ ئي د خدمت وشوه. پس له هغه په نولسم د رجب خلمي بيا لاړ شول. تاخت ئي وکړ. د اکوزيو د منډو مال ئي دگډو ډير راوست. اکوزي ورپسې راغلل. مال ئي په بونگه ورکړ. شيخ عثمان غمازي کړې

وه د پښناور امین ئې د مال دپاره راسور کړے وهٔ. ضرور شهٔ یوسفزے اولس جاگیر د بادشاه دے خوشحال چې تاخت و باخت کړے دے هغه مال راوله. خان د هغه امیر خاطر نشان کړ د سعدالله خان د پروانې نقل ئې وکړ روان شهٔ. یو څو ورځې پس ښادې خان د څو سوړو سره لاړ شهٔ. مال ئې کم راوست. ولې د خلو زیو سره ئې جنګ وشهٔ. یو څو ئې زخمي کړل. هزیمت او شکست ئې وروړساوهٔ. نقل دے چې یو څو ورځې پس له کوره په تاخت د کمالزي امازي سور شهٔ. یو ځائے ئې پخونه وکړه. دے پخپله جاسوس شهٔ. په ډیری کښیناست. امازي کمالزي په جمع لښکر کړے وهٔ د ورځې راتلهٔ ئې وو په نیت د بولاق چې تر سرایه پورې د سیند په غاړه [۲۴۸] میشته دي، د وهلو. دا لښکر دهٔ ولیدهٔ. و خپل لښکر ته ئې اظهار د هغه لښکر ونهٔ کړ ورته ئې ظاهر کړه چې کاروان په لارې تیر شهٔ. چې لښکر تر دهٔ تیر شهٔ نور ئې سورلي ورپسې وکړه. تُغ او نغاره او پیاده دا ئې له خانه سره کړهٔ. سوارهٔ په پویه ورپسې ورغلل جنګ ئې ورسره اغاز کړ. چې سوارهٔ د دوي د لښکر سره په جنګ شول. ورپسې خان علیین مکان د نغارې د نښان د پیاده ؤ سره ورښکاره شهٔ. امازي کمالزي تاب رانهٔ وړ. شکست ئې وکړ. تیر ضو کسه په میدان ومړل چې اهل بغې وو. کله منار ئې په اټک ساز شهٔ. ملک جانم امازے په دا جنګ کښې ومړ. (۱) ملک پیرو کمالزے ژوندے ونیو شهٔ. بیا د مهابت خان په صوبه داری کښې میر یعقوب دیوان بادشاهي لښکر په تیراه په بعضې آفریدي ورکزي چې باغي وو وکړ. خان ئې هم چې میر یعقوب سره ئې ډیر اخلاص وهٔ وبالهٔ. په تیراه په دا مهم ورسره وهٔ. په فتح د فیروزی له تیراه د کوهاټ په لارې کورته راغے. بي بي دور د شیر خان (۲) مور مهماني په کوهاټ کښې ورته کړې وه. شیر خان په هغه آوان مهابت خان ورسره معلوم مخالف وهٔ قید ئې بادشاه ته استولے وهٔ. نقل د بیاض د خان علیین مکان چې په خاصه دستخط ئې کښلي وو. په دویم ورځ د فتح چې لښکر د بهاګو خان د جلبی په میدان مات شهٔ دا بیت خان ووې:

هر څوک دې خپل یون کا ... فارغهٔ دے کهٔ کوتره

څوک چې خپل هنر بدل کا ... خپله چاره کهٔ اوتره

جنګ مذکور ورځ د پنجشنبه شپږم د رجب المرجب سن د هجرت زر اویا. ورځ د نوروز وه چې واقع شهٔ. خان علیین مکان له مهم د تیراه چې پخوا ذکر شهٔ په فتح فیروزی راغے. دوه خلور ورځې ئې کور تیرې وے. فتح په فتح ئې روزې شوه. وروبه د بهاګو خان په دا جنګ کښې مړهٔ شول. نمایان فتح وشوه. نغارې نښانونه ئې رانیول شول. اول جنګ د خان جنت نښان په حضور د خان علیین مکان دا وشهٔ. تهور و شجاعت ئې ښکاره کړ. بهرام او سعادت

هم حاضر وو. نقل دی د خان علیین مکان د بیاضه چې په خپل دستخط ئې کښلي وو چې د ربیع الاول میاشت کښې چې سن د هجرت زر دوه اویا وهٔ چې دوي فتحې وشوې. یو د بنادي خان او د شمشیر خان سره ئې شپېتهٔ اویا سوارهٔ په تاخت استولي وو قضاءً دوي دواړه ملک حبیب سره راوتلي وو وبله برابر شول. پینځهٔ سوارهٔ ئې څنې پریستل. بله فتح د مناري وه چې همگي پنځوس سوارهٔ د محموتي به نهٔ وو چې د زینو او د عثمان سره د مناري د کلي تر څنګه ئې غوا میښې ونیوې. بهاګو خان خپله پسې په هپه راغې. هیڅ ئې ونهٔ کړ. مال ئې ورځنې راوست. نقل دی د بیاضه د خان علیین مکان دویم خور په پینځم د ادینه په ورځ چې سنه د هجرت زر دري اویا وه د نوګرام په کڅ کښې جنګ د شمشیر خان سردار وهٔ. همگي پینځهٔ پنځوس سوارهٔ ورسره وو. مرزا خجواني د غازي خان میر احمد خیل د خوي سره دري سوارهٔ څلور پلي د دوزي زیو ومړل. مرزا خجواني مهابت محموتي په نیزه وواههٔ. خواص خن ئې غاړه څړی شهٔ. د اسه ئې پریوست. د خلي خوې حیات خان محموتي د اسه پریوست. هغه بل سور اختري[۲۴۹] محموتے پریوست صله د دوي د تردد سروپایونه ورکړل شول.شمشیر خان چې سردار وهٔ اس ورته انعام شهٔ بنهٔ سوبه وشوه. تر دا تردد پخوا هم په مناره باندي تردد شوې وهٔ سري مړهٔ وو. بل جنګ د انبار ډیر (۱) وهٔ چې د یوسفزي همسایه ګجران وو. ډیر ه دماغ کښې وو. خان علیین مکان خواب ورواستوهٔ چې خپله جمع مو زر ورکانۍ. دوي مخالف خواب ورواستوهٔ چې کهٔ تهٔ جنګ ته رانغلې دا پیغور په تا پورې او کهٔ مونږ کمي وکړه په مونږ پورې. اخر خان علیین مکان پرې لښکر وکړ دوي هم ورله راووتهٔ. شکست ئې بیاموند. ډیر ګوجران ومړل. نور واړهٔ جنګونه ډیر شوي دي. حساب ئې نشته. نور حقیقت د بنګښ د جنګونو بیانیږي. شیر خان و مرزا مغل ته ورغې. محال د تري بولاق چې د خان انعام وهٔ د بادشاه له طرفه دهٔ په دیرش زره روپۍ اجاره واخست. خان د تري او د بولاق سره مرکه وکړه. چې شیر خان دا هسې کار وکړ. تري بولاق ورته ووې چې تهٔ له خپله کوره یو سردار راسره کړه نور زمونږ تماشه ګوره. خان بنادي خان ترهٔ ورسره کړهٔ. اول د شیر خان عزیز وهٔ. د انګو په تاپې کښې هغه ئې مړ کړ. څو کسو سره بهائي خان نومیدهٔ. بیا شیر خان لښکر وکړ خان، بهادر خان چې سکه ترهٔ ئې وهٔ او پلار د مؤلف خان جنت نښان اشرف خان چې په هغه آوان خلمې وهٔ د لښکره سره غوریزي (۲) تول ته ورستوهٔ. د غورزیو په تول د شیر خان جنګ وشهٔ. بهادر خان ترهٔ د شیز خان (۳) له اول په تورپک پرې ووت مړ شهٔ. شیر خان شکست بیاموند. خان جنت نښان (۴) ډیر کوشش وکړ اما بهادر خان عالم له تعاقب منع کړ. بل جنګ د نیلبن (۵) په دره کښې وهٔ چې شیر خان.

ننګ په تمام بنګښ واچوۀ او درست بنګښ سره تول شۀ. د نيلبن په دره کښې ديره وو او په تمام غرور راوتلي وو چې سرود به ورته کيدۀ. الله داد خان ئې سردار وۀ قوال ورته دا وئيل چې الله داد خانه يوه خټکه راکړه زۀ به ئې وکړم له ناکام. اخر بنادي خان چې د بنګښ له ډيرې خبر شۀ چې نيلبن ته راغلۀ. د خټکو سنګر درست په ترکي غابني وۀ. اول مکوړيو شابې خيلو چغه ور وکړه جنګ ئې شروع کړ. بيا دا نور خلق هم ورپسې ورغے. بنګښ ئې مات کړۀ. تير صو کسه ئې مړۀ کړل چې تير سو سرونه په اولجه کښيوت چې عالمګير په تخت کښيناست. مهابت خان ئې صوبه دار د کابل کړ. اوس به ذکر د خان عليين مکان د قيد او د اورنګزيب په تخت ناستے بيان شي. او پس چې څۀ شوي دي مجمل مجمل حقيقت د دې مقدمې چې خان عليين مکان په ترجيع بند ذوالقافيتين کښې بيان کړي دي حقيقت ئې د خپل قيد او د عالمګير په تخت ناستے او ظلم د باد به څنې معلوم شي. ترجيع بند:

څۀ د بدو خوب چې مې وليدۀ سحر ستر ګې مې رنې کړے ناقرار شوم په بستر

دا ترجيع بند تر اوله تر آخره پورې تمام په کليات د خوشحال خان درج دے. دلته تمام نقل کول هيڅ حاجت نشته. فقط. (٦) [٢٥٠]

ذکر د شاه شجاع د ورکيدو او د يو بل شخص څان په شاه شجاع مسمیٰ کول بيانيږي.

شاه شجاع چې د بنګالې په لور ورک شوے وۀ يو شخص د يوسفزيو په لورې پيدا شۀ. دعویٰ ئې وکړه چې زۀ شاه شجاع يم. يوسفزي عالم چې اوس زبردست دے او هيڅ مدان هم دے لکه خان عليين مکان په سواد نامه کښې وئيلي دي بيت:

هر مغل چې په سوات راشي شهزاده شي هر سړے ئې و منصب ته آماده شي

په بادشاهي ئې قبول کړ. لښکر ئې ورسره وکړ ورغلل د اټک د پرګنې د هزرو په برابر (١) د سيند په غاړه ديره شول. د اطراف او د جوانب الوسات د پښتنو په دا هنګامه ډير عالم جمع شۀ. د مغل فوځونه هم د اټک فوځدار چې کامل بيګ (٢) نوميدۀ د مراد قلي ګکهړ سره راغلل. د سيند په غاړه په مقابله د دوي ئې واړول. په سبب د بد تدبيری چې دوي کان د جهل دي يو لور بل لور په شپه ورځ تر سينده پورې نۀ شول. (٣) برابر په لښکر پياده د پورې چې سر د لښکر ورپورې شۀ. (١٣) بادشاهي فوځونو پرې باندې مټ وکړۀ. هومره په سيند ډوب شول چې حساب کتاب ئې نۀ وۀ. معامله د شجاع (۴) برهم شوه لاړ د يوسفزيو په سواد کښې کښيناست (۵) پس د څو مدت په سوات کښې وفات شۀ هورې ئې کښيښ. ابيات:

که داند که اين خاک ديرينه قدر (٦) بهر غاری اندر چه دارد ز. ر (٦ ١)

کہن کیسہ شد خاک پنہان شگنج — کہ ہرگز برون نارد گنج

عالمګیر محمد امین خان د لاهور صوبه دار له ډیرو سورو سره د یوسفزيؑ په مهم تعین کړ. چې راغے یوسفزے عالم چې په سمه کېښې میشته وۀ له سمه ئي پاڅوۀ. و غرونو ته شۀ. سري ئي نر میان کړل چې د شجاع هډونه په لک روپی راکړئ. یوسفزیو خواب ورکړ چې نوم به مو بد شي ور ئي نۀ کړۀ. نور وجاروت لاړ. یوسفزیو بیا لښکر وکړ په شاه منصور راغلل وائ رول. امیر خان د شیخ میر وررور چې صوبه دار د کابل وۀ لښکر ئي په مقابله د دوي ورواستوۀ. جنګ ئي وکړ یوسفزي مات شو. (۷) ډیر عالم قتل شۀ. خان علیین مکان چې امیر خان قید کړ د بادشاه په حضور ئي راستولے وۀ څو مدت د رنتنبور په ګړی کښې محبوس وۀ لکه دا قطعه ئي په دا باب وئیلي ده:

په وسط د خلورمې خور په بند شوم — په رجب د بل کال وختم په ګړ
په پینځم د ذوالقعدي (۸) له ګړي کوز شوم — دوه کالونه پینځۀ میاشتې شي د تړ
بنۀ تاریخ د استخلاص راله راغے — "لاړ په کوزه د سید مور د مور لپړ"

دا وصیت نامه پس د زر او شپږ اویا لسم د رمضان په قید کښې خان علیین مکان و خان جنت نښان ته کښلے وه. د عمر اسماعیل خیل په لاس ئي استولے وه. او د ذوالقعدي په پینځم په سن مذکور له قیده خلاص شۀ. هغه وصیت نامه دا ده. اووۀ پړ که وصیت نامه مؤکده په ډیر تاکید موشحه په مبالغه شدید چې فرزند ارجمند د اشرف خان واړه [۲۵۱] فرزندان جمیع هرا خواهان یاران دي په دا عمل عامل وي. عمل دي د هر یوۀ پړي تل وي. دي ما د قید په حادثه د اولس په تفرقه اووۀ قسمه عالم داخل دي. کۀ پردي دي کۀ خپل دي. د هر چا سره موافق د دیو د کردار د عمل په مقدار سلوک راه و رفتار کاروبار کا. بویه چې تخلف تجاوز پکښې واقع نۀ شي. او قسم اول بابا زے دے. بیا رحمت زے بیا کم ذات زے بیا سعادت خیل بیا مذبذبین بیا ناقص خیل بیا مردود خیل وبلل شي. بابازي بائیزي دي لکه دي ما د پلار خونه هسې دي. چې فرزندان پکښې ورغلل. د اورنګزیب بادشاه بدي ئي راسره واخسته. حق ئي د دوستی د خویښی هر چې د یاری اشنایی وۀ په ځائے کړ. رحمت زي رانیزي دي چې په دا ننګ شرم راسره شریک شول. دیو دواړو اولسونو سره څو توان رسیږي نیکي بریه. د پښتون والے پکار د مغل په دربار د دوي په بهبود مټ کوشش بویه. سرومال و ملک د دیو په کار پرخنه کښې کۀ پکار کیږي دریغ نۀ بویه. خویښي دوستي دي هم له دوي سره وي بلکه د واړه اکوزي (۱) سره دي دا حال محکم مستحکم وي. کم ذات زي کمال زي دي چې په دا هسې وخت ئي د هسې کمینی چار وکړه چې کده ئي ووهله. پښتني ئي سر

تـوري کړے. د ديو کمال نۀ وۀ زوال ئې وۀ. سعادت خيل هغه دي چې شرم و ننګ ئې وپالۀ. نـمک مې ئې حلال کړ. د سردار متابعت ئې په ځائے کړ. سعادت خان سره دې ما د زاهوزاد چې حيـران پريشان سيکرى لره لاړل. سعادت د ديو دا وۀ چې دا پت همت ئې په ځائے کړ واړه سـعادت خيـل دي. چـې دې ما د اولاد حکم وړوني دي. دا فرقه دې عزيزه مکرمه وي. دوستـي خـويښـي دې پـه قـام کښې هم له ديو سره وي. قلنګ، عشر، راهداري هر محصول تـکـليف دې تـر هـفتـه پښته په ديو نۀ وي. هر شان تقصير چې وکا تر اووۀ نوبته دې ورمعاف وي. د دربـان مـنـع دې نـۀ وي پـه وادۀ پـه کوژده په شل په شومه دې ورسره مدد کړے شي. پياده دې پـه سـوارۀ شـمـارلے شـي. سـور دي پـه دوه سـوارۀ حساب. مذبذبين هغه دي چې سـعادت خـان ورځـني لاړ شۀ. دوي متفرق لاړل يا په وطن کښې په بد حال متحير پاتو شول هيـڅ ئې نۀ زده وو چې څۀ وکړي. دا فرقه هيڅ ګرم نۀ دي دې ما د اولاد خوک ور پاتو نۀ شۀ کۀ خوک ئې د ضرور د مخه ليدلي وي يا ئې د چا څۀ خوړلي وي هم معاف دي. لکه کله چې کتـل شـول هسـې دې کتل شي. انعام او اکرام هر څۀ په ځائے بويه. په دا کښې هغو چې د چا مـخ ليـدلے نـۀ وي هـغه دې نتيجه بياموي. ناقص خيل هغه دي چې حق ئې د برادرى د سالها پـرورش پـه ځـائے نۀ کړ. پس د سعادت خان نابود ئې وليد بخري حصې مهيني ئې د دۀ قبولې کـړے ورسـره په مثل بندوبست ئې د ملک کاوۀ دا نقصاني شول. نور پرخاش دې ورسره نۀ وي. ډيـر د يـوۀ جنګه وتښ په بل جنګ پکاريږي. ساتل دې شي د نقصان سره. مردود خيل خـود معـلـوم دي د ديو جزا سزا په خدائ سپارلے. کۀ حق پوښي او کفران ئې د نعمت کړے دے هـغـه هسې پاداش پاديشونه به پرې کيږي. خپل شامت ورلره بس دے چې تر اوسه لاس پـرې الـوده نـۀ شـول اوس به څۀ آلوده کيږي خو د صبر او د لوے نيت په توره دې غوځيږي. القصه چې له ګرهه راخلاص شۀ په حضور د بادشاه راڼۀ دا قطعه ئې ووئيله ابيات:

پـه بـنـارس نـدی چـې راغـلـم | پـه نـظـر راغـلـه سـارس
پـه بـل لـوري مـې نـظـر کـړ | راتـه زغ وکـړ طـاؤس
چـې پـرون دې مخ پـه ګـرهـ وۀ | نـن دې بيـا پـه خپـل اولـس
حـکـايـت شـۀ خـنـي پـاتـو | نـۀ مـاهـے شتـه نـۀ يونـس (۳)
وې ئـې غـم ښـادي خـوشـحـالـه | دواړه تـوکـه دي تـس پـس

بيا بـادشـاه خـلاص کـړ په دا آوان چې ۱۰۷۷ هجري وۀ په غره د رجب المرجب په وقت د نمازخفتن خان عليين مکان په بازار کښې د دهلي سور تۀ اس ئې وتوريد تري پريوت. پښه ئې ډيره ازاره شوه. دا قصيده ئې ووئيله چې مطلع ئې دا ده : چې بهتر تر هر نعمت دے خو نعمت

د ږوغ صورت دے. (۴) په حضور وۀ دا فتور چې په ملک پيدا شۀ وي وبالۀ. بادشاه په حضور وپوښتيدۀ چې دا يوسفزے عالم د شاهجهان په وخت دي تا رعيت وۀ اوس ئې څۀ سبب دے چې دا هسې ياغي شۀ. دۀ هم وخت بيأموند په عرض د بادشاه ئې ورسول چې امير خان ناکرده کار مغرور دے اول کۀ د دۀ عقل وے زۀ د دريو پيړيو خانه زاد بيګناه به ئې ولې قيد کولم. دے هميشه په شرابو کښې غافل وي. بيت:

گر چه بصبوح باده پیوست باده تو خوری عدو شود مست

مرزا عبدالرحيم د دۀ ديوان دے. تمامه ورځ لکه هلک چرګ جنګوي. د ديو د کاره بادشاه څۀ اميد لري. کۀ دا صوبه دار څو ورځې نور هم وي لا به فساد زيات شي. بادشاه وفرمائيل چې هسې دے؟ نور ئې ورته ووې چې د کوم صوبه دار عمل بۀ دے په هغه ملک. دۀ په عرض ورسول چې د مهابت خان (۵) عمل بۀ دے چې په هندوستان بادشاه ګردي شوي وه دۀ صوبه د کابل بنه وساتله. بادشاه هغه زمان حکم وکړ چې مهابت خان چې په ګجرات صوبه دار دے فرمان دې وکښے شي چې په تعجيل دې رادرومي او خان علیين مکان[۲۵۲] ته ئې وفرمائيل چې دا خبره و هيڅا ته مۀ وايه چې مهابت خان رادرومي. په کابل به فساد زيات شي. مهابت خان راغے په عرض ئې د بادشاه ورسول چې خوشحال هم د هغه ملک مصالح دے. دې ما سره دې رخصت شي چې دررومي. بادشاه وفرمائيل چې خوشحال بې ګناه ډير آزار ځکولے دے. هغه به لې څۀ په خاطر کښې وي هغه کار کړے بويه چې د دۀ له خاطره هغه ووځي. بيا دۀ په عرض ورسول دا خانه زاد دے. هيڅ ئې په خاطر کښې نشته. بادشاه دې ورنه خلعت ورکړه نور دې ئې رخصت کا خدمت به کا. بادشاه ووې اختيار لرے. خان په دا خبره له مهابت خانه ډير آزرده شۀ چې بادشاه په مهرباني راغلے وۀ. تا به دې ما دپاره ډير څۀ غوښتي وو. دا دې څۀ په عرض ورسول. دۀ ورته ووې چې ماته د بادشاه نه د معطله ولو وسواس په خاطر کښې وۀ. چرې به ئې راسره رخصت کړے نۀ وے. بيا ئې خويه د بادشاه تر نظره تير کړل. په اميد د منصب بادشاه وفرمائيل د خوشحال ډير بنۀ خويه دي واړه نوکران کا. دا عرض ئې وکړو چې واړه خانه زاد د بادشاه دي. د بادشاه به پکار شي. بادشاه ووې ما دې تا او دې تا د فرزندانو اختيار و مهابت خان ورکړے هر چې دې وکښې و ماته منظور دي. خان عليين مکان ډير له مهابت خانه آزرده شۀ. ورسره نۀ راتۀ دا فرزندان چې ورځخه وو دواړه (۱) ورته منت بار شول چې په هر ځان وطن لره تلل بنۀ دي. د مهابت خان سره روان شۀ. وطن ته راغے حکم د بادشاه و مهابت خان ته وشۀ چې قلعه د لنګر کوټ (۲) لور ته سازه کړه. چې دا ملک په ضبط کښې د بادشاه (۳) راشي. مهابت خان راغے په لنګر کوټ ئې

واړول. خان ته ئې وفرمائيل چې هزاري منصب د يوسفزيو ارباېي درته قبوله کړه. (۴) دهٔ ورته ووئيل چې پـنـخـوس کـالـه زهٔ دولـت خـواه وم او يـوسفزے باغي وهٔ په جدل مې وواههٔ (۵ يـوسفزے مې رعيت بادشاهي کړ. منارې مې د دوي د کلو سازې کړے. زهٔ بې گناه قيد شوم. قبيـلـه مـې تـفـرقـه شـوه په دا همه دښمني يوسفزي مې د قبائل په کار شول. اوس زهٔ په کومو سترگو بيا د يوسفزيو دښمني کومه. او بادشاه ته هم مناسب نهٔ دي چې دا قلعه (۶) سازه وي يـوسـفـزے اولـس زبـردست دے دا قلعه به په ميان کښې د دوي قائمه نهٔ شي. عاقبت به ناسو شي. نـهٔ بـه نيـوهٔ شـي نـهٔ بـه پـريښودهٔ شي. هم دغه تانه د نوښهر کافي ده. دا بيت د فارسي د مهابت خان ته ووايهٔ بيت:

چند کهگل ميناکی بے بقا دیوار را　　　گر تو لنگر کوٹ خواہی قلعه کن دمغار را

شـمشير خان چې چارهزاري منصب دار وهٔ هم په هغه مجلس کښې ناست وهٔ. (۷) د يوسفزيو د مهم مبالغه ئې وکړه. په دا سبب ئې ووې چې کهٔ لنگر کوټ ساز شي بادشاه به دا فوځداري و ما راکړه. دهٔ ته ئې دا بيت د پښتو في البديهه ووايهٔ بيت:

مهـم د يـوسـفـزيـو درتـه ووايـم ښکـاره　　د خرهٔ خصي کول دي لاس گنده گريوان پا

مهابت خان مرد دانا وهٔ وپوهيد بادشاه ته ئې وکښل چې لنگر کوټ سازول صلاح د دولت نه دے. او تـو کـه معرکه (۸) ئـې هم مرزا سهراب (۱۸) د خپـل ورارهٔ سـره بـادشـاه ته واستوله شـمـشيـر خـان اگر چې خوږے دے معرکې (۹) سـره ئـې واستـوهٔ.[۲۵۳] مـخفي ئې بادشاه ته وکښـل چې لنگر کوټ نيول عين صلاح دولت دي. بادشاه په خبره د شمشير خان عمل وکړ مهـابـت خـان تـه ئـې وکښل چې خواه ناخواه لنگر کوټ او هند ساز کړه. د دې هومره عالم سـره پـه شـمـشيـر خـان ئې وسپاره تهٔ دورمه و کابل ته، په موجب د حکم ئې لنگر کوټ سا کړ.(۱) شـمـشير خان ئې پکښې پريښ. دے کابل ته لاړ. په کابل کښې مهابت خان تغير شهٔ مـحـمـد اميـن خـان راروان شـهٔ په صوبې د کابل شهٔ. هغه آوان ارزاني د غلې وداني د کابل صوبې د پښتانهٔ نهايت ډيره وه لکه خان عليين مکان دا تاريخ وئيلے دے. بيت:

د غـفـا د کـال بهـار گوره خـوشـحـالـه　　چـې د مـرو بـه ئـې هـوا وشي هـوس تـه

مـحـمـد اميـن خـان ډير دولتمند وهٔ او ډير مغرور وهٔ. د دې صوبې د پښتنو د معاملې لکه چې سـابـق مذکور شهٔ په دا دوه جنگه سپکې پريوتلے وے. تر هسې حده نقل دے چې يوه ورځ ئ لـه جـمرود نه کوچ وکړ د کابل په لور. سرداران د غرهٔ د پښتنو راغلل. سلام ته ئې ودريدل شراب ئې څښل. حسين بيگ خان (۲)امرا ورسره وهٔ هغهٔ عرض وکړ چې د نواب سگان (۳ مجرائ کا. دا خبره پس وته پښتنو هم واوريده. غيرت الٰهي هم شايد هغه وخت په حرکت

رغبے. چې تکبر جامه الهي ده. هم هغه حسین بیگ خان امرا په کونړ کښېښولو خدار وهٔ یو پراچگی (۳) د صافي عالم د اولس د کلیو د خرید و فروخت دپاره هغه تاڼې ته چې حسین بیگ ئې خان وهٔ ورغله. په وخت د تلو د تاڼې نه بیرون شوه. چا سپاهیانو د حسین بیگ خان پرړې مسخره وکړه. هغه ځائے دوه درې کسه صافي ناست وو هغو منع وکړه. یو د بل سره جنگ وشهٔ. د حسین بیگ سپاهیان ئې مړهٔ کړل. غر ورنژدې وهٔ په غرهٔ ووختل و خپلو کلیو ته لاړل. حسین بیگ خان خواب ورواستوهٔ د صافیانو سردارانو ته دا کشنده ونیسئ راوائ سنوئ. هغو خواب ورستوهٔ چې دې تا سپاهیانو بد کړي دي. مونږ ئې څهٔ رنگ دست بسته درستوو. حسین بیگ خان په قهر شهٔ. د هغهٔ گرداگرد اطراف پښتانهٔ ئې واړه په لښکر وبلل. په صافیانو ئې لښکر کښېنې وکړه اولسات د پښتنو چې سره جمع شهٔ هر چا پوښتنه وکړه چې دالښکر په صافیو پسې په څهٔ سبب کیږي. چې دا د بڼخې خبره به ئې واوریده د هر چا په زړهٔ به گرانه شوه. په جمع ئې صافیو لره خواب واستوهٔ چې مونږ دې تاسو بدې دار نهٔ یو له مونږ خاطر جمع لرئ. هر وخت چې مقابله د جنگ پیښه شي مونږ به شکست وکړو هر چې په مغل کانې اختیار لرئ. سبا چې جنگ ته روان شول چې مقابله شوه پښتنو شکست وکړو مغل هم تاب رانهٔ وړ. مغل هم مات شول او اکثر ډیر مغل ومړل. چې په دیره راغلل پښتنو جرگه وکړه چې مغل زمونږ په فریب وپوهید. مبادا سرداران قید کا کهٔ دے مو بولي په مونږ لاس ولگوي بویه چې تاسو هجوم وکانې. مونږ خلاص کړئ. حسین بیگ دوې و دیرې ته وبلل چې ورغلل کښېناستل ناگاه اواز وشهٔ چې سرداران ئې قید کړهٔ. پښتنو د حسین [۲۵۴] بیگ خان په دیره هجوم وکړ په دا کښې نا اعتباري د مغل پښتانهٔ زیاته شوه. چې سرداران د پښتنو دیرې ته راغلل سره ئې معرکه وکړه چې زمونږ د مغل سره اوس اعتبار پاتو نهٔ شهٔ. د حکیمانو متل دے چې "بدگمان را هر چند دلجوئی نمائی گمان او بیشتر گردد" کهٔ هر څو به مغل دلجوئي کوله د دوي اعتبار پاڅید. په تمام هراس ئې فاتحه سره ولوسته. خپلو کورونو ته روان شول. حسین بیگ خان په ځائے بې دست و پایه پاتو شهٔ. محمد امین خان چې په هغه موسم په پښاور وهٔ دا حقیقت ئې ورته مرقوم کړ. محمد امین خان ډیر په قهر شهٔ. (۱)... موسم ئې د کابل د روانیدهٔ وهٔ پښتانهٔ چې کورونو ته ورغلل بیا ئې جرگه وکړه چې محمد امین خان له پیښوره روانیږي چې تر خیبره و ننگرهار ته راتیر شي زمونږ مهم به وکا. بویه چې مونږ پخوا خیبر ته ورشو یو جنگ به ورسره وکړو. خلاصے به څني وشي. کهٔ نهٔ وي بیا دے هر چې کا هغه به خود وکا. چې وخت د محمد امین خان د کوچ شهٔ شنواري او مهمند چې د خیبر حد و حدود د دوي دے په جمع ئې لښکر وکړ. په خیبر کښېنې ئې د غریب خاني غابنے ونیو. نور

پښتـون هـم کم کم ورسره وۀ. محمد امين خان خبر شۀ. ملک مستجاب ارباب د پښاور او نـور سرداران د پښتنو د آفریدیو د ورکزیو چې ورسره وو واړه ئې په مصلحت وپوښتيدل. په سبب د محـمـد امين خـان د غـرور عالم واړه راضي وۀ چې کۀ چشم زخم دۀ ته ورسي او له مـلاحظې ئې هم هغه وئيل چې د دۀ د مرضي موافق وو پس ته ئې خان عليين مکان تنها خلوت تـه وبالۀ. پوښتنه ئې وکړه چې څۀ مصلحت دے؟ هغه آوان کښې چې خان قيد وۀ محمد امين خان نيکي ورسره کړې وه په دا صوبه کښې چې وۀ په سبب د شرم دست گرفتگي رعايت ئې ورسره کاوۀ. ځنې راضي وۀ دا ئې ورته ووې بيت:

که با هیچ ناداشت کشتی مگیر فریب فرشتش که طاعت کند

دې تـا شـان د ديو سره د مقابلې نۀ دے. تۀ لوے دوې سهل عالم دے دا ساعت ئې وغلوه. چې لـه لارې تـفرقه شي چې بيا تر خيبره تير شے هر چې پوهيږے هغه کوه. بيا اراده د الٰهي څوک جارايستے شي. د دۀ په زړۀ دا تدبير بد ولګيدۀ. بيت:

چو بخشش نگون بود در کاف کن- نکرد آنچه نیکانش گفتند کن

ورتـه ئـې ووې چـې خوشحاله يو سرے وۀ سردی وهلے مار ئې په توبره کښې واچوۀ چې ګرم شـي. بيـا ئـې هغه سرے وچيچۀ. ما دې تا سره نيکي کړې وه. تۀ و ماته هسې مصلحت ښيے زۀ بـه بـادشاه ته څۀ خواب کوم چې له دې کاره هسې بدو سګانو هراس کړم. دے هم له خپله هراسه له هغه خبرې واوښت د دهشته ئې ورته ووې چې هر ګاه تۀ په دا راضي ئې زۀ د وړاندې تۀ راپسې. اخر ئې کوچ وکړ له پښاوره ئې په خيبر واړول. مستجاب اوغيره مهمند (۲) ئې په طريق د جرګې ورستول چې لار پريږدئ دوې پښتون ته په ظاهر يو څۀ او په باطن بل څۀ ووې پښتنو ورته ووې چې زمونږه اوس سل کاله عمر پوره شوے دے. تاسو اوس درومئ. دا غشي چې مو پـه تـرکـش کښـې دي دا امداد د تاسو ډير دے. نور ئې دوې [۲۵۵] رخصت کړل. راغـلـل مـحـمـد امين خـان تـه ئـې ووې چـې پښتـانۀ په جنګ خير دي. دۀ هم کوچ وکړ له جـمـروده ئـې پـه علي مسجد واړول. له علي مسجده د لوړګي په سر ورغے ودريد. وړاندې پښتنـو مـورچـه بـندي کړې وه. دۀ هم خپل فوځونه کين ښي په هر لور آراسته کړۀ. محمود خان خويشکے د دوې جمعدار وۀ. مست هاتيان د وړاندې فوځ ورپسې. په لار ئې په مورچو ورستـاوۀ. په ښي لاس ئې تمامه توپخانه له مبارز خان امرا سره پرې حکم کړه. چې دا فوځونه پـه مـورچـو ورغلل پښتنو ګټی له کاڼيو ډکې کړے له پاسه ئې پرې راپريښوے. هاتيان پستنۀ راوتښتيـدل. مـحـمـود خان خويشکے د ښو ښو عالمو سره ومړ. نور فوځ شکست وکړ مبارز خان ئې په ښي لور رامات کړ. (۱۰) هسې توري ووهلے پښتنو چې عالم غيب پرې آفرين

وکړ پوه ورځ تمام جنګ وشۀ. اما هیڅ برے مغلو په پښتنو نۀ شۀ کولے. آفریدے اورکزے چې سرداران ئې د مغل سره په جلب کښې وو دا هم څنې کناره شول. خان علیین مکان له خپله عالمه سره ښۀ تردد وکړ د مغل د لوریه. اما "چو طالع نباشد تهور چه سود" اخر محمد امین خان ته چا روې چې دا لار د تهترو چې و سیند ته کوزه شوې ده تۀ روان شه دا ځائے چرته اونه لښته چې لښکر په سیند واړوي له دغه ځایه به جنګونه ښۀ وکړه. (۲) هغه لار نۀ وه لار د قیامت وه چې لښکر ورروان شۀ و تهترو ته نور غرق شۀ هسې قیامت په مغلو نازل شۀ چې حق تعالیٰ ئې په نورو مسلمانانو مۀ راوله. محمد امین خان چې په سر د تهترو ورغے. پښتانۀ څو جمعداران ورسره وو هغو ورته ووې چې تهترو ته کوزیږے تۀ به هم ډوب شے. زمونږ سره رادرومه مونږ به دې د خیبر په لارې وباسو پښاور ته. یو محمد امین خان په واحد صورت هغو پښتنو جمعدارانو د خیبر په لارې روان کړ. پښاور ته ئې ورساوۀ. نور مالونه خزانې حشم خدم فرزندان محلونه هر چې ورسره وو دا واړه د تمام لښکر پاتو شول څۀ په مرګ ومړل څۀ پاتو شول په بند شول. هغه ملفس پښتانۀ محمد امین خان شول. هغه محمد امین خان په یوه ورځ مفلس شۀ. رباعي:

فلک نیست آغوش تو طراز دو رنگ است بر دوش تو
جهان یک نواله است پیچیده سر گاه جلوه بود گه جگر

خان علیین مکان هم په هزار مشقت له څو فرزندانو سره د تهترو د بلا نه پښاور ته راورسید. محمد امین خان تر دۀ پخوا پیښور ته رارسیدلے وۀ. دا معامله د محمد امین خان په سنه زر درې اتیا کښې وه. (۳) نقل دے چې خان علیین مکان په خپل دستخط کښلے وۀ چې په غره د محرم سنه زر درې اتیا لښکر د محمد امین خان په خیبر کښې ډوب شۀ. زۀ او مستجاب دواړه ورسره وو. د تهترو په لارې راووتو پښاور لره راغلو. محمد امین خان له څو سورو سره د علي مسجد په لارې پښاور لره راغلو. تمامه خیلخانه حشم ئې پاتو شۀ. مور، خور، لور، خادمان ئې واړه بند شول. عورته ئې ومړه. څوے (۴) [۲۵۶] او اخښے ئې ومړل. زۀ سخت بیمار وم. د تهترو په غرونو کښې کله پلے کله سور راتلم. ډیر په ځان شوم. اشرف خان مې محمد امین خان لره واستوۀ. خوار وزار حیران ناست وۀ. اشرف خان نه ئې پوښتنه وکړه ورته ئې ووې چې دې ما سلام هم پلار ته ووایه چې ښه چې روغ راغلے له بیماری دې خدائے صحت درکا. کۀ څۀ طاقت لرے تر ما پورې راشه. زۀ ډیر بې طاقته وم. له شرمه له عذره مې هم فکر شۀ. ور نۀ رغلم. په کټ باندې پروت وم. اشرف خان همروزه تر کوره ورسولم. په نوښهر کښې په بیړی کښیناستم عالم سره درهم برهم شۀ. د مغل پښتانۀ سره

اعتبار لاړ. قصیده په هغه وخت دا وه. بیت:

چې دانــا تــر نــادان لا وژنــي بتــر　　　　مگــر نــهٔ دے دا ژونـدون څــهٔ معتبـر

مستجاب وته مې په تهترو (۲) کښې ووې چې زوررور کار پیښ شهٔ راشه یو مصلحت سره وکړو دې ناقباحت فهم وهٔ دا ئې ووئیل (۳) چې بنـه بیـا به سره وکړو دا بیت په آخر د دې قصیدې دے بیت:

مستجـاب مهمنـد کـهٔ چرگـه د مغل ده　　　　زهٔ خوشحال ختټک خو باز یم ځائے مې غر

نور کهٔ هر څو مغلو بللم نهٔ ورتلم ورته مې ووئیل چې دې ما اولس هم واقعه طلب دے چرې به فساد وکا. د خپل اولس په بندوبست مشغول یم. اشرف خان دوه ځله ورلره پېښور ته ورغلے وهٔ. محمد امین خان به ډیره مهرباني پرې کوله. زهٔ په نظام پور (۴) کښې ناست وم. په دا مینځ کښې فدائي خان (۵) خزانه راوړه. دې ما اولس راته ووئیل چې خزانه به وهو ما ورتـه ووئیل چې د مغل د پښتانهٔ اعتبار پاتو نهٔ شهٔ. زهٔ اول هم د مغلو داغونه په زړهٔ لرم چې بې تقصیره ئې په قید کړم. ولې نمک حرامي کیږي. څلور پینځهٔ پښته (۶) ما د مغلو بنهٔ نمک خوړلے دے. خزانه به وهم؟(۷) القصه فدائي خان لره اشرف خان د اټک تر سینده پورې ورغے خزانه ئې ورسره پورې کړه. پښاور ته ورسید. د اشرف خان تملق ئې ډیر وکړ سروپائې ورکړ. رارخصت ئې کړ. چې فدائي خان پښاور لره ورغے مستجاب ئې وواژهٔ. ملکان د مهمندو ما لره راغلهٔ. بازید خان د دهٔ ترهٔ ورسره. ما هم په ننگ د پښتانهٔ زهوزاد له سرایه راویوست. نظام پور لره مې راوست.(۸) قصد مې د اټک د نیوو وکړ چې اټک به ونیسم. لار بـه د پښاور بنده کړم. مغل به نور هلاک شي. په دا مینځ مهمند واړه بیا مغل لره ورغلل چې اوس بوچه خان د مستجاب ترهٔ په خدمت په دولت خواهی د مغلو ملا وتړله. زهٔ حیران شوم. مهابت خان صوبه بیامونده د دهلي نه راروان شهٔ. پیاپے ما لره ئې کښنل راستول چې زهٔ خو دې تـا پـه ملگری نازېږم. ما لره په مخه راشه چې د ملک د بندوبست مصلحت سره وکړو. ما خو یوه په زړهٔ کښې نیولے وه. د مغل د نوکری مزے مې په زړهٔ کښې شلولے وهٔ. ورتـه مې هر چې راست درست ور وکښل. او دا رباعي مې ورته په فارسی کښې وکښه.

رباعي:

گفتم که مغل شوم به شمشیر زدن　　　　افغان را که بس برید گردن

آخر نه شدم همان افغانم　　　　حیف است ز کس کوشش بے جا کردن

محمد امین خان هندوستان لره روان شهٔ. ملاحظه ئې ډیره کوله چا ورته وئیل چې ختټک به دې د اټک پـه گودر کښې تـالان کـاندې. اما دې ما په زړهٔ کښې بې له نیکی د دهٔ سره نور

هيڅ نـهٔ وو. پـه دا سبب چي زهٔ [۲۵۷] د اورنګزيب په قيد کېښې وم احسان ئي راسره کړے وهٔ د خيبـر پـه تـلـو مي دا نصيحت ورته کاوهٔ هغه ورځ چي د پېښور له بنهره ئي کوچ وکړ. په بـاغ بـادشـاهي کښې ډيره شهٔ. زهٔ ئي خلوت لره وبللم، پوښتنه ئي راځني وکړه ما ورته عرض وکړ چي هـر شان چي شي د پښتنو سره مخالفت مهٔ کړه. په دا زمان هر رنګ آشتي تر ميان کړه چي دا جـنـګ پـه خيبـر کېښـې ونـهٔ شـي. هغه عالم دي تا د مقابلې نهٔ دے کهٔ ما ورته ښهٔ نـصـيـحـت وکـړ مـګـر دهٔ راته دا متل کړو چي خوشحاله يو کس وهٔ چي مار ئي ساړهٔ وهلے په تـوبـره کېښـې واچـوهٔ چي ګرم شهٔ بيا ئي هغه سرے وچيچهٔ. له تا سره ما نيکي وکړه تهٔ ماته دا هـسـې بـد راهي ښئيے. بادشاه به ماته څهٔ وائي چي دے پښتنو ډير ويروو. نور چي دا ئي ووئيل دې مـا مـلاحـظـه وشوه ورته مي ووئيل چي هرګاه نواب جنګ بهتر ګڼي اول زهٔ پـسـې نواب. ولـې وي نـهٔ مـانـهٔ، لاړ شـهٔ. حـادثه به ازل وررسيدلې وه. ورورسيد. (۱) ګنه ما د دهٔ د نيک خوښي تقصير ونهٔ کړ. غرض کښل مي ورته وکړهٔ چي نواب دي خاطر جمع لري په اټک به هيڅ آسيب نـهٔ وي. راغـے تـر اټکه پورې ووت ډير انتظار ئي وکړ چي يو ځوے دي تا راشي چي سـره ووينو. څهٔ به ورته ووايم (۲) د اشـرف خـان رضا وه چي کهٔ ما واستوي ولې دې ما ملاحظه کيده نهٔ مي ورستاوهٔ. بې سعادت (۳) وته مي ووې هغهٔ خان بيمار کړهٔ بهرام بدفرجام وته چي مي ووې محمد امين خان تر سينده پورې وتلے (۴) وهٔ. بهرحال لاړ شهٔ. په څو ورځو پـس مهابت خان راغـے چي زهٔ د قيده خلاص د مهابت خان سره بادشاه رخصت کړے وم چي وطن لـره راغـلـم هـمـيـشـه ئـې پـه خلا ملا مصاحب وم. د دهٔ ريو رنګ واړه رامعلوم وهٔ. چي مـنـصـوبـه بـازي ډيـره لري. له دهٔ په زړهٔ کښې هميشه شکي وم بلکې اورنګزيب هم څهٔ ورته وئيـلـي وو. لـه مـانه په هراس کښې وهٔ. ويسا مي پرې نهٔ وه چي وخت باريک وهٔ. د پښتنو د مـغـلـو اعتبـار پـاتو نهٔ وهٔ. حق احسان ئي هم راباندې وهٔ. د دهٔ بدخواه نهٔ وم. مصلحت دا وشهٔ چي تـري بـولاق لـره به لاړ شم. چې د دهٔ د مينځه وغړيږم. هغه اولس چي نفاق لري متفق ئي کـرم. لاچي لره لاړم (۵) هـوري بيـمـار شـوم. هـم هـسـې په بيماری کښې خوړې لره راغلم. زمونږه خاصه کله په خاورى (۶) کښـې وه. پـس دې ما د تلو لاچي لره اشرف خان مهابت خان لره په خير آباد کښې ورغـے. ورسره په خټ وهٔ. از روئے مصلحت ئي سروپائ ورکړ. له نوښهره ئي رارخصت کړ. اما په سبب دې ما د نهٔ ورتلو په باطن کښې ډير ورسره مخالف وهٔ. پـه وخـت د رخـصـت مچلګه ئي هم ځني واخسته چي پلار په خپل ملک کښې په جاګير مهٔ پريږده. دهٔ غلطي وکړه مچلګه ئي ورکړه. بائده چي دا هسې مچلګه ئي نهٔ ورکولے. کښل ئي ورکړے وے چي د فساد ضامن يم چي فساد به ونهٔ کا. دې ما زړهٔ د اورنګزيب د نا انصافي

داغ داغ وۀ. ارمان مې دا وۀ چې يو ځله مې توره په مغل واخستے. ولې د قبيله دارى په سبب بل د سن و سال د کير سن په واسطه. بل له قديمه نقش [۲۵۸] د آبا او د اجداد چې د مغل په خدمت کښې مړۀ وو. حق د نمک ئې ډير وۀ. بې وفائي مې نۀ کړه. نيت مې دا وۀ چې نوکري به ئې هم ونۀ کړم. ګوښه به ونيسم. باقي عمر کۀ توفيق رفيق شي په طاعت په عبادت به تيروم. تربيت به د هلکو ځامنو کومه دا غزل چې له لاچې نظام پور ته راغلم وۀ مې وې چې مطلع ئې دا ده. بيت:

د فساد فکر مې نشته خداۍ حاضر دے خپل ساعت به تيروم عمر آخر دے

فلک په دا راضي نۀ وۀ نوره بازي ئې راپيدا کړه. مهابت خان چې په پېښاور داخل شۀ. بازيد خان وغيره مهمند ورغلل. ملازمت ئې وکړ ورته ئې ووې چې تاسو تر ميان شئ خوشحال راولئ. بازيد خان خط راله وکيښ. د هغه خط په ځواب کښې مې دا قصيده ورته وکښه. قصيده دا ده:

پرورده کۀ د مغلو په نمک يم د اورنګ له جوره هم له غريوه ډک يم

په ناحق ئې په زندان کړم يو څو کاله خدائے خبر دے کۀ پخپل ګناه زۀ شک يم

په کليات کښې درج ده. اخر بيت ئې دا وۀ. بيت:

د افغان په ننګ مې وتړله توره ننګيالے د زمانې خوشحال خټک يم

بهرام بدفرجام چې هيڅ مناسب ئې نۀ وو شيخ ضياء الدين (۱) د هغو عاصيانو په بد راهى چې د بهادر خان او فيروز خان سره ملۀ وو. نفاق ئې آغاز کړ بنګالي خان د مهابت خان ورارۀ چې بهرام ئې ورسره کړے وۀ په يو وخت د يوسفزي ملکان ئې شاهجهان آباد (۲) لره د بادشاه په ملازمت بيولي وو. (۳) په وسيله د هغې اشنايي لا مهابت خان تر اتکه راپورې نۀ وۀ چې مذکور ئې ورسره کړے وۀ چې کۀ ملک د اشرف خان و ماته راکړے پلار وررور مې درتلونې نۀ دي. زۀ به درشم دولت خواهي به دې هسې وکړم چې دواړه به لاس نيولي درکړم. سبحان الله په جهان دا هسې بلا هم پيدا کيږي چې د فاني دنيا دپاره د مشر وررور په مرګ راضي شي. زمونږ په زړۀ کښې وهم فکر اصلاً دا هسې نۀ وۀ بلکې ضياء الدين چې په کور راګډ وۀ زوم خوږے مې وۀ. هميشه به د دۀ له غمخورو وم دے مې خپل دوست ګڼۀ. د هغۀ به مې په څو دا انديښنه وه. واړه خپل ئې ځبله بيزار کړل. د بهرام بدفرجام سره ئې ودرول. مهابت خان سره پروانه بهرام ته ورکړه چې کۀ پلار وررور دستګير کړے او يا ئې وشاړې يا ئې ووژنې ملک دې تا دے. ضياء الدين وته ئې پروانه وکښه. د مغلو غونډې ئې په تشو کښلو والوځوو. بدفرجام په مجرد د پروانې حکم ورلره راوړ. نور سراۍ لره راروان

شۀ. راغـے د اشـرف خـان سرې ئې له سرايه پاځول. خپل عمل ئې وکړ. هسې احمق پرې نۀ پـوهيـد چـې مـغـل دورانـدازي کا. سره مو اخته کوي. په بدفرجام کبنې دا څو خويونه جبلي پرتۀ وو. محيل، مزور (۴)، مکار، مفسد، منافق، فضولي باوجود د حماقت دا حال ذاتي لري. د دۀ لـه ديـو خـويونو شامت فساد په اولس کبنې برپاۍ شۀ. کليم شاه څينے ئې مصلحتي وۀ. چې دے سرائ لره ولاړ شۀ زۀ سخت بيمار د قولنج په درد اخته وم. غشيان بې طاقتي تر کومه وکبنـم. اشـرف خـان لـره مې سـرے واسـتوۀ چـې دا حال پيبن شۀ تۀ څۀ فرمائے. اما دۀ راته خواب پـه خپـل دستخط وکيبن چې زر [۲۵۹] درومه. فکر براصل د بهرام د کليم د بنادي فيروز وکـړه. دے د جـمـعيتـه سره ورغـے. بهرام خان حيران شۀ د سرائ نه راووت. باغ (۱) څخـه د خپـلـې دلې د سورو پليو سره ودريد چې زۀ به جنگ وکړم. ولې تيبنت وته تيار وۀ. اشـرف خـان لاس ونيـو. نۀ ئې د مرگ بريد پرې وکړ نۀ ئې وتاړۀ. په ژړا سر شۀ چې وررور په څړ ووژنم. بهرام خان مزور حسن خيلو وته ووې چې بابا لره به درومو. هر چې ووائي واړه به هغـه کـوو. اشـرف خان هم قبول کړۀ. بهرام د ضياء الدين کره لاړ شۀ. کورونه ئې هم هورې وو. اشرف خان د سرور ميلې (۲) لره راغـے. دا حقيقت تر ما ورسيد، ضرور شۀ چې په ضعف کبنـې د سـرور ميـلـې لـره ورغلم چې کۀ خيريت شي. ضياء الدين ته مې سرے واستوۀ هسې مکـرونـه څـنـې ظـاهر شول چې وائے به چې د بنگالې ساحر دے. په شا لاړ منکر شۀ. په خلۀ مـنکر په زړۀ مقر. کۀ خان لره مې بالۀ هزار عذرونه ئې وکړل. خان به ئې غلط کړۀ نۀ به راتۀ. اخـر کـار تـر دا حده ورسيد چې واړه څيني ئې د بهرام سره ملونه کړۀ بهرام ئې بيا سرائ لره رران کـړ. اشـرف خـان تيـار شـۀ د سورو د پليو سره چې ورپسې به ورشم جنگ به وکړم. د مغل په اندازه زۀ وپوهيدم چې مطلب ئې دا وۀ چې خټک سره اخته شي ووژني. مصرعه:

اے روشنئ طبع تو بر من بلا شدی

زۀ په دوه اوره وسوم. (۳) يـو پـه دا چې کۀ دا بدبختان دا هسې نۀ کا. بل په دا چې کۀ جنگ فسـاد تر مينځه ونۀ شي چې د مغل زړۀ به يخ شي. اشرف خان مې منع کړ. بهرام د څينيو سره سرائ لره راغـے حاکم شۀ. ورپسې د مغلو فوځ د بهرام په حمايت راغـے. کۀ ما حکم ورکړے وے هومره لبنکر د اولس وۀ چې بهرام او مغل به ئې دواړه سيند ته اچولي وو ولې حکم مې نۀ ورکـاوۀ. مـا وې گـونـدې خيـريـت شـي. په دا مينځ کبنې د صلح آشتي خبرې گډې شوے. بارانـونـه هـم ډيـر وشـول. سخت ژمے وۀ اولس قسمي د اشرف خان وۀ چې مونږ به غرۀ لره رادرومو. د ساړۀ د بارانونو له سببه پاڅيدے نۀ شو. د صلح صلاح په خبرو کبنې لبنکر چې د اولـس راسـره وۀ هـم خور شۀ. سل دوه کسه کدخدايان وغيره زمونږ پاتو وو. ضياء الدين پے

در پسې سرې بهرام لره واستول چې اوس دې پرې وار دے. کۀ جنګ دې وکړو بهتر ګڼه ځينې هم پښيمان دي. پلار لره به دې ورشي. دې تا بازي به برهمه شي. الحق کۀ يو دوه ورځې په جنګ کښې اهمال وے واړه ځينې به راغلي وو. په تاريخ شلم د مياشتې د ذوالقعدې د بهرام لښکر راغے. مغل د جمو پهاړيه، د پورې کليو بولاق، راپورې د سيند په غاړه کلي (۴) دا عالم واړه روبروئے شول. ځينې اوريا خيل دا د شيخ د زيارت (۵) په لورې په پيتاؤ (۱۵) راغلۀ. مونږ لره ضرور شۀ. د دوۀ خلو (۶) ترلي لره راغلو. حسن خيل اسماعيل خيل چې په منهې (۷) په ظاهر سنګر وو له اول تر ترلو وړاندې په هوني ولاړ وو. چې ما وليدل زړۀ مې ښۀ نۀ شۀ چې بې ځايه د وړاندې ولاړ دي. سړي مې ورستول چې راپسته شئ. زمونږ سره سم ودريږئ. [۲۶۰] دوي له جهله آواز وکړ چې غليم وليدے شو اوس به مونږ دا ځائے نۀ پريږدو. فتح خيل اسماعيل خيل د قرمزې (۱) دا مې هم ورستول چې اوس تينګ شئ. مدار په تاسو شۀ يا فتح يا واړه به سره توئ شئ. اول جنګ په دوي راغے. جنګ ئې په ښۀ روش آغاز کړ. مغل ئې پريستل فوځ ئې مات کړ. د نمر ختائۀ په لورې د غرۀ په بغل پهاړيه بندوقچي پرې څونصو پونصو راغلۀ. توپک ئې پرې راپريښول. تاب ئې رانۀ وړ مات شول. د ترلي عالم کم وۀ اشرف خان د لږو پليو سره سوارۀ هم معدوده په ترلي ولاړ وۀ. زۀ تر ترلي را په هسې نغاره را څخه ولاړ وم او نخښه مې ور کړې وه چې نغاره وکړم سوارۀ تر ترلي ورپاخوي. ګډ ئ کاني، مهمندي د قبلې په لورې په غرۀ ختلي وو چې حسن خيل مات شول دوي هم سره وښوريدل. تاب ئې رانۀ وړ. دا هم بې ځايه شول. غليم د مغل سورو بدفو جام د خيلخانې بدبختان و ترلي وته رانژدې شول. ملا عثمان جنګ آزموده وۀ اشرف خان ئې خواه ناخواه د ترلي نه راروان کړ. غليم په ترلي راننوت. زۀ هم راهې شوم جنګ هيڅ ونۀ شۀ. بې روش کار شروع شو. اما خيريت ئې په دا کښې وۀ کۀ حسن خيل سم ولاړ وے عالم به اکثر په قتل رسيدلے وے. حق تعالىٰ هسې خيريت راکړۀ چې يو سړے هم زمونږ د لښکر ونۀ مړ. د غليم ښۀ سوارۀ د مغل ومړل. پهاړيه هم څو کسه داخل په جهنم شول. مغل پښتانۀ زمونږ په ديره ورغلل. خيمې شاميانې ئې زمونږ د ډيرې واړه تالا کړے. لوېې نغارې چې هورته پرتې وے هغه ئې هم يوړے. د ښاديګې خوې يوړے. ډيره ئې ونۀ کړه. غليم سرائ لره روان شۀ. مونږ خاورې لره راغلو. د مهمنديو (۲) ملکان ايوب فتح خيل وغيره لس شل آفريدې آدم خيل چې په لښکر راسره وو نور بيک وغيره شپه راسره تيره کړه. سبا خانه کوچ نظام پور لره راغلو. يو څو ښنته دولت خواهې چې مې د مغلو کړې وه سزا مې دا وه چې په ناحق ئې وژلم. د نظام پور نه په دويمه ورځ غرېين (۳) لره دوه شپې تر مينځه د خورد ريزه سره راغلم.

حادثه راپیښه شوه. مهمندیو [۴] ناکامه کشاله قبوله کړه. حسن خیل اسماعیل خیل د سرائ سل کورونه څهٔ زیات راسره نیم فتح خیل او نیم اوریا خیل واړه اسماعیل خان د قرمزي [۵] سره متفق دا هومره اولس دا هومره عالم راسره پاتو شهٔ. انبار د اشرف خان په ببرو کښې وهٔ. مهمندیو غوایهٔ ورته کته کړل. څلویښت پنځوس آفریدي خواجه خورم غوایهٔ ور کړهٔ. اشرف خان په څان له جمعیته سره ورغے انبار ئې راوړ. د اسونو دانه د مهمانی روټی وشوه. په‌تاریخ د ذوالحجه ۱۰۸۳ هجري [۲] د عابد خان سره دیرش څلویښت سوارهٔ د قرمزي [۷] د سماعیل خیلو [۱۷] په لارې تر غرهٔ پرې وتل. د نوښهر د خان دوران د سرائ تر میان ئې بدشاهي لار ووهله. ښهٔ دست برد ئې وکړ. لس پینځلس مغل نفر چاکر ئې وژلل. د مغلو بندي ئې راوست. [۸] یو اس هم راغے. په تاریخ د شپاړسم ذوالحجه سن مذکور اشرف خان نظام پور لره ورغے. د کډو عالم مهمندي عبدالرحمٰن اوریا خیل [۲۶۱] رازملي، علي بیک وغیره د پنځوسو شپیتو کورونو سره اشرف خان هورته پاتو شهٔ. په سرداری د عابد خان د عبدالقادر خان اولس په خیر آباد په شپه ولګید. دروازه ئې هم ماته کړه. په کوټ ورننوتل قتل عام ئې وکړ. تر سلو زیات سړي ومړل. اوښان غوایهٔ حیوانات ډیر قتل ژوبل شول. [۱] اسونه، اوښان رختونه متاع په اولجه راغلل. ښهٔ نمایانه فتح شوه. په دا لښکر مهمندي واړه نهٔ وو. موسی خیل بوچه تاکر خیل [۲] وو. ولیداد د فقیري علي بیک خیل او ابراهیم نسک خیل سره حاضر وو. نور بیک علي خیل د نفاق په سبب واړه نهٔ لاړل [۳] د کډې عالم شپیتهٔ اوریا خیل معدوده فتح خیل دوه درې اسماعیل خیل وغیره درې سوارهٔ افریدي واړه لښکر تر شپیتهٔ سوارهٔ تر تیرصو پیاده ؤ دواړو بهیرونو زیاتي نهٔ وو. [۴] د صاحب ولي [۵] خوږے حاضر وهٔ. راهبري راستي ئې ښه وکړه. د کرپي [۶] په لارې په شپه د سیند په غاړه لښکر ورغے چې خیر آباد ئې وواههٔ. د اینځري [۷] په لارې په غابښې راهریوتل. سبا شهٔ ببر واړه د بدفرجام وروبلکې د خیر آباد څوکی هم په دیو مقرره وه. په تلهٔ د لښکر خبر شول. په راتلهٔ ئې څهٔ شوروشر وکړ. اما د جنګ طاقت لې نهٔ وهٔ. هډ ئې ماتولے لهٔ شهٔ. نور ورغے بدنام شول. اول شپه چې د مغل لښکر په نظامپور راغے دوه سوه تیرسو کسه آفریدي ختک په شبخون پرې وختل. اما کار ونهٔ شهٔ. بیا مغل په غربین راغے ومړ مات شهٔ. زرین فتح خیل د دې لوریه دستګیر څینیو ووژې طوطا مهمندے د مرزا ورور په توپک زخمي شهٔ. په نهم تاریخ د محرم ۱۰۸۴ هجري و ډنبرې [۸] ته روان شوم. غربین لره راغلم. آفریدي په غربین وو بیدل. نور چې زهٔ ورغلم جرګه مې ورسره وکړه. اتفاق ئې راسره وکړ. دوه شپې مې هورته تیرې شوے. په یولسم د میاشت لښکر د مغل نظامپور نه ولیښ. وریسې روان شوم. دوه تنبې آفریدي یوه

تنبه ختک واړه سره لښکر زمونږه اووه سوه کسه پیاده دوه سوه سوارهٔ سل و شل نور واړ
پیاده تفنگچي هم په دا کښې دوه سوه وو. شاید چې وو. د سونیالي په غابنې په غلیم پسې
ورسیدلو. څونصو پونصو تفنگچي د جمو (۹) د غرهٔ په دنبال چنداول (۱۰) د مغل په غابنې
کښې ناست وو. تر یوه پهره پورې جنگ وشهٔ. اخر د مغل چنداول مات شهٔ. طمع دا وه چې
واړه به په قتل ورسیږي. قضا ئې نهٔ وه. دولس کسه ومړل. تر شلو زیات زخمي شول. پا
تیښته خلاص شول. د څینو کلي وسول شول. لښکر زمونږه په وخت د نمازپېشین راکو
شهٔ. شپه مې په گاړو (۱۱) تیره کړه. د دولسم په سبا تنبې تړلې مې د نیلاب په کلیو رواړ
شوم. (۱۲) اشرف خان د ختک تنبه ورسره په میان کښې ختوزي د وړاندې عاشه خیل (۱۳
د ورووستو په نیمه ورغ ورغلو. د توهه وغیره دوه کلي سربرده ووهل شول. شل دیرش
خوانان جنگي د کهتړو ومړل. بند اولجه ډیره وشوه. غانماً سالماً ډنبرې لره په دیارلسم کو
ته راغلو. په څوارلسم مې د آفریدیو کدخدایان رخصت کړل. د بند قرار د جاروتو وشهٔ
نظام خان، ملا عثمان مې دریا خان (۱۴) لره روان کړل. شپږ ویشتم د محرم ۱۰۸۴ هجر؛
سل کسه اوریا خیل څلویښت [۲۶۲] فتح خیل دیرش اسماعیل خیل او اتهٔ خلوزي شپږ
کسه د کډو پیاده پنځوس سوارهٔ او دیرش پلي او څلور سوارهٔ آفریدي حسن خیل د جو
کوړ (۱). دا هومره عالم روان شهٔ د جینا کوړ (۱۱) په غابنې پریوتل. سردار ملا عثمان وهٔ. مې
باز جلال خان هم ورسره وو. د میوړه (۱ ب) دوه کلي ئې په نیمه شپه ووهل. درې څلو
سَرې پکښې ومړل. (۱ ج) ډیر مال مواشي تیرصو غوا میښې ئې راوستې کلې ئې وسهٔ. ما[ل]
اولجه هم کم و بیش راغله. یو دوه بندي راغلل. تاریخ اتم د صفر وهٔ اشرف خان مې د در
خان آفریدي په کښلو د مغلو سره د روغې په نیت و خیبر لره روان کړ. هورې ورغې ایم
خان دریا خان د مغل سره د روغې پیوستون کړې وهٔ. تاتار خان د دریا خان وررور تو که تو ک
(۲) آفریدي ورسره مغل څخه وو. د ایمل خان ورارهٔ هم د مغل سره وهٔ. اشرف خان چ
ورغې لکه د اشرف خان زړهٔ وهٔ هسې کار نهٔ کیدهٔ. روغه د مغل سره ونهٔ شوه. بیارته راغې
دا مینځ کښې مغل منصوبه بازي آغازه کړه. بهرام وته ئې ووې چې تهٔ پلار د توتکي (۳)
پاځوه یا اشرف خان راښولو ملک ورکوؤ. پرواني هم ئې راستولې سروپایونه ورسره. مهابه
خان ډیر منصوبه باز وهٔ. غیرت خان د نجابت خان څوې څرمه کړهٔ. دا خطونه سروپایونه چ
تر میان وگرزیدل. د بهرام بدفرجام په خان مزوکې بنخې شوې. حکیم بنادي د فیروز خا
واړه په جد په دا شول چې کهٔ مونږ کهٔ مرو کهٔ ژوو لښکر اوس کړې بویه. او کهٔ نه اشر
خان ته به ملک ورکا. مونږ به واړه قتل شو. شیخ ضیاء الدین لا په دا کار د واړو څینو س

به جد وۀ. القصه لښکر سره تول شۀ په مهراجي په کاوز دره (۴) راغے. اوریا خیل ئې ورسره ملۀ کړۀ. د میر کلان (۵) پـه لار تـر غـابنـې راپـرېووت. د اوریا خیلو ملکان د مهمندیو سره راغـلـۀ. ابـراهیـم نسـک خیل ناکرده کار خلمے وۀ وې ئې غلاوۀ ورسره ئې مل کړ. مونږ هم تیارې د جنگ وکړه. آفریدې واړه تیراه لره لاړۀ. پنځوس شپیتۀ کسه حسن خیل د جیناکوړ راغـلۀ. کلا خان ښادوګے د توره څېره (۱۵) د شـلـو کوررونو سره راغلۀ. مونږ هم د کهو عالم مهمندې (٦) راسـره واړه پـرنـصـو کسه به وو. په دا جمعیت مو اختیار د بهرام تر واړه لښکر نیر وۀ. د دۀ درې زره لا زیات لښکر وۀ.

د پټیالې بولاقو لره مو سړې ورستوۀ چې کومک راشې او کۀ نه جرګه ملکان راشو. هـم راغـلـۀ. په مغلو بدفرجام چې لښکر د کمر میلې (۷) لـره راغـے د غربین تنګه مونږ ورته تـرلـے وه. د ربیع الاول اوومـه ورځ وه لا ګلونه د پسرلې لیدل شول تحویل د ثور وۀ. فکر د جـنـګ وشـۀ. د جـنـګ پـه وخت ابراهیم نسک خیل چې منافق وۀ وې وئیل چې زۀ به د څو مهمندیو (۸) سره بهرام لره ورشم. د دوې شفاعت به ورته وکړم. ګوندې وجاروځي. د اوریا خیلو ملکانو هم ووې کۀ ما هر څو وئیل اثر نۀ وۀ. ابراهیم خواه ناخواه ورروان شۀ ورغے. شل روپۍ بهرام ورکړے. دا ناکرده کار چې کرورونه هم په دا ځائے کښې پکار نۀ وو. [۲۶۳] په دا سهـل کـار وغـولـیـد. د غـوبـانو د شپنو عقل خو هم دغه وي. پستنه راغے. نامردې نامردې خبرې ئې آغازې کړے. د لښکر ئې دم ویوست. مهمندې وو پستنه شول. په یوه زمان کښې کـار بـل شـۀ. د جـنـګ اختیـار خور شۀ. څیني مهمندې خپلو کهو وته روان شول. ما ابراهیم کـهو لـره راوبـالۀ. چې تا خو وکړه اوس ماته څۀ وائے چې څۀ وکړم. صریح ئې راته ووې چې اویـا بـخـرې خـټـک واړه د بهـرام سره مل دے. زۀ انۀ بخره مهمندے توان نۀ لرم چې جنګ وکـړم تـۀ اوس تـوتـکـے پـرېـږده او لـېږده زۀ بـه هم څو ورځې پس په تا پسې ولېږدم. تیرې څوترې لره به درومو. مقصود ئې دا وۀ چې کۀ دے د مونږ نه ورک شي مونږ به د بهرام سره پـه خـوړه کښې روزګار کړو. رحمت په میرزو او بهلول او په لالي علي بیګ خیل یو فقیرے ګمراه شوے وۀ. د ابراهیم مل وۀ. نور واړه په ښۀ شرم کښې وو. چې دا ئې واوریدل غوغا ئې وکـړه چـې مونږ بې جنګه نۀ ودرېږو. میرزو وژړل راته ئې ووې چې ما خو تاته وې چې په دې غـرنبـو مـۀ غـولـېـږه خـپـل فـکـر کوه. اوس راشه چې لاس نیولے دې ورکوې. ما لره هم دقت راغـے. اوښې مې تویې شوے. چې دوې نامردانو څۀ حرکت د بې ننګۍ واخست. مراد خان د میتو، مهمندې ممه خیل وقهرید وې وئیل چې ما خو خپل سر د خدائے رضا له د ننګ دپاره د خان د نمک دپاره په میدان ایښے دے. کۀ کهې عالم راوبالۀ. اشرف خان د سورو په تول

کښېني ولاړ وۀ. ملا عثمان چې معتمد مردانه وۀ له واړه کلي چوړ وۀ. زينو وغيره يارا راغلۀ. واړو په دا اتفاق ووې چې جنګ زر بويه او که نه دا پاتو مهمندي هم راځخه دروې حکم مې د جنګ وکړ. د ملا عثمان سره مې سوارۀ روان کړۀ چې د بهرام په لښکر ورشو چغه وکالې چې جنګ شروع شي. ديرش څلويښت سوارۀ ورروان شول. يو کروه تفاوت ت ميان وۀ سوارۀ وربنکاره شول. د بهرام لښکر دهشت زده شۀ چې ګنه واړه راباندې وخوت تار په تار پريشان شۀ. اخر چې وپوهيدل چې لږ سوارۀ دي بيا ورسره ټول شول. مونږ مصلحت کښې غلط شو کۀ هم هسې تنبې ترلې د سورو د ورووستو ورغلي وے هورته به کا تمام يو تر بله ورغلي نۀ وو. (١) بهرحال زمونږ د وړاندې د بهرام لښکر ورپېښې. جنګ شروع شۀ. ما خان ځخه مورچل قائم کړے وۀ د کلو اعتباري خوانان واړه راسره وو. په ښي لوري موتي خيل علي بيګ خيل سره د غرۀ په پښته قائم وو. تر اوبو پورې پښته د تختي خيلو د ټاکر خيلو د فتح خيلو وه. واړه سوارۀ پلي په ما باندې راغلل. خو چې دې ما نښان ني وليد وپوهيدۀ چې تر سره تير شوے ناست دے. واړه سرتيري ورسره دي. ځان ني وغړاوۀ. د لښورې (٢) په لوري لاړل. هغه لار خالي وه. دا ګمان مو نۀ وۀ چې نامردان به مونږ پريږدي. هورې به ځي. شاباش په ټاکر خيلو و مخې لره ني راغلل. فتح خيل هم ورسره وو. ښۀ جنګ ني وکړ يو جنجو خيل يو رخړ دواړه ښۀ سوارۀ دا ځائے د بهرام له لوريه پريوتل. څو پلي سوارۀ زخمي شول. تختي خيلو ډيره نامردي وکړه. نظام خان د ديو زوم [٢٦٣] وۀ ما ورسره کړے وۀ. د خپل مورچل ني هيڅ حرکت ونۀ کړ. د ټاکر خيلو ملا ني ماته کړه. پس پائے شول. تختي خيل بې جنګه مات شول. ځيني روبرو د موتي خيلو، علي بيګ خيلو او د ما مورچل د پاسه ني جنګ کاوۀ. دا مونږ مات کړل. غرض دا چې کۀ تختي خيلو مټ کړې وې چې څۀ خو بهرام معطل وے. نور د مونږ سورو هم په ناله مټ ور وکړے. نصرت به شوے وۀ. خو چې تختي خيل پاځيدۀ لار خالي شوه. بهرام سوارۀ پلي ورسره فراغت په هغه لارې ولاړ شۀ. په توتکي ودريد. مونږ لا جنګ کاوۀ. مراد خان دا ځائے سربازې وکړه پريووت. ربنتينے خوان وۀ. لکه سر ني ايښے وۀ هسې تردد تري ظاهر شۀ. آخر زينومينا وغيره ځوانان د کلو په جد شول چې غليم د مونږ په زاهوزاد ورغے. دا ځائے ناست څۀ کړے ضرور شۀ. روان شوم. روانيدل مې هم بې ځايه نشو. د مهمنديو کلے د غربين په دره کښې وے. هورې لاړل. د ځينيو کلې په سروبي (١) وے. هورې لاړل. واړه ديرش سوارۀ پنځوس پياده په شماره دي ما سره وو. روان شوم په توتکي ورغلم. بهرام ډير سوارۀ پلي زعفراني کړې وو چې په توتکي ورغلو هغه زعفراني سوارۀ اکثر تر توتکي تير وو. ما خپل محل وته حکم کړے وۀ چې هيڅ

ځوک دې د توتکي نه نۀ پاځي. مطلب مې دا وۀ چې ما خو قرار د مرګ کړے دے. که فتحه وشوه بهتره او کۀ نه خو مرګ دے. چې زۀ ومرم عيال اطفال هر چې شي اما دې ما حکم خو داوۀ. باز خان خالد خان نور هلکان کور وو. ميرباز هم اول زمونږه پخوا ورغے. (۳) د افضل خان مورچل د بهرام سوارۀ له لرې ځايه وليدل تاب ئې رانۀ وړ واړه سره روان شول. هر چې مـل متاع وۀ تـو لـوټـې تر کودې پورې واړه پاتو شول. چې مونږ د توتکي په دره (۴) ورغلو سوارۀ پـلـي راتـه په کمر ولاړ وو. د غشيو شيبه ئې راپاندې وکړه. يو بدبخت خو په قصد زۀ ويشتم. ژغ بـه ئـې راپاندې وکړ چې اے رافضي وليو رافضي ښاديګے د نرې يو بدا خيل خير آبادې سوارۀ ولاړ وو. اما حيران متحير، حيراني ئې په دا وه چې عظمت او خنجر وغيره اووۀ اتۀ څـۀ سـوارۀ څـۀ پلي زعفراني د وړاندې په کلو پسې تير وو. هومره حيا شرم پکښې نۀ وۀ چې خپلې خوينديې مينديې دي په ځو به وروپسې درومو. چې وړاندې په دره کښې تير شو اول زۀ وم او نـور سوارۀ د اشرف خان سره دې ما نه وروستو په دنبال راتلل. ناګاه مې په نظر تول سـوارۀ کښيـوتل چې مې مخې له راتلل فکر مې دا وشۀ چې آفريدې دې راپسې راغلل کۀ ښۀ فهم مې وکړ زعفراني جامې ئې وې وپوهيدم چې مادر بخطا ډله ده. ژغ مې وروستو سورو ته وکړ چې راوړسيږ (۵) چې مـا غـوښتـل هـغه دا دي. اشرف خان، قادر خان، نظام خان، يحيٰ خـان، مـلک سـليـمـان، کـلا خـان آفـريدے ښادو د دۀ ورور عابد خان واړه راورسيدل. هغو اسونه پريښول د غرۀ اړخې وته وتښل. عظمت او يو محموتي د حکيم ځوے دوه درې سوارۀ لکه کړۀ. (۶) مـا تـوره وکښلې وه. پرې راغلم تر ما تير شۀ. اشرف خان ګزار د نيزې لکه وۀ هسې پـه عـظـمـت وکـړ، کـوږ شۀ ولې پرې نۀ ووت. عابد خان [۲۶۵] په نيزه وواهۀ د اسه پـريوت. هسې ئې توره وکښه ګزار وله جوړ شۀ. عابد خان ترې تير شۀ په هغه محموتي پسې هـغه نـې هـم پريوست. عابد خان هم د اسه پريوت. هغه پرې راغے بيا چست پاڅيد. ورسره غاړه غړې شۀ. په اوبو کښې ئې د هغۀ سر ومانډۀ. دے هم پاس په ډنډ کښې پرې پريوت. کۀ دې مـا نـظـر پـرې وشـۀ حيران شوم. د عظمت نه تمام په هغه لورې متوجه شوم. سيد د بوړې پـرې راغـے محموتے لې په توره وواهۀ. عابد خان ترې پاڅيد. روغ وۀ زړۀ مې ښۀ شۀ. کۀ بيا په عظمت راغلم توره په لاس ولاړ دے. ځوک ئې د ملاحظې نۀ وهي. ما توره ورواچوله. دوه تورې پـرلـه پـسـې پـه سـر سـر وواهۀ. اشرف خان ووې چې د ساتلو دے. په ما د دۀ وئيل بد رلـګيـدل حـکم مې وکړ چې وهۍ ئې. دے هم سر ځيرلے پرهارژلے وۀ. کښيناست ما بيا توره ورواچـولـه. آخر اواز لې دا وۀ چې وهه مالي باپ ئې. په دا مينځ کښې جليل خاص خيل پرې راکوز شۀ. رسا ئې وواهۀ کار ئې تمام شۀ. هغه وخت چې اشرف خان په نيزه وواهۀ د اشرف

خانه د هغې کافر ګي مرېي په سبب آزرده وۀ ورته ئې وئيل چې وهه چواړيه. و ما وته ئې وې
چې وهه مائي باپ. دے هلک يتيم شوے وۀ لکه فرزند هسې مې ساتلے وۀ. پرې خوښيد
چې تيرۀ خلمے دے د شرم په وخت به مې پکار راشي. فلک هسې وې چې تۀ به ئې په خپل
لاس په توره وهے. هيڅ په دا اخر وخت چې نمونه د قيامت دے باور پاتو نۀ شۀ. په خوي
پلار اميد پاتو نۀ شۀ. نور به څۀ وائے. خائے د حيرت د عبرت دے. په تقدير د خدائے
شوميت د بدو سړيو کار دې ما د خيلخانې تر دا حده ورسيد. غرض دا چې وخت د نمازښا
وۀ روان شوم په کډو پسې ورسيدم. يو د قيامت ساعت وۀ. مور خوي سره نۀ موندل. پ
سړوبې مې د استوګې نيت وۀ. ولې اوبۀ نۀ وے. ډنبرې لره مې عالم روان کړل. هورې هم
اوبۀ نۀ وے. د منصور کلي وته روان شوم. او صدر خان مې د ورروستو خان سره سور کړ
افضل خان مې د وړاندې ونيو. مجاهد خان مې و بنادو افريدي ته ورکړ. دا اووۀ سوارۀ راسر
شو. بنادو افريدي لار ليدلے وه. زۀ وروپسې تلے، اشرف خان دا نوره کډه راپسې خودريز
بيوله. نيمه شپه نژدې وه چې د منصور خان په ميله ورغلو. هورته هم اوبۀ لږې وے. بهرحا
څو پريواتو. سوارۀ راپسې راغلل. د غرۀ درې لره لاړل. اوبۀ ئې راوړے. نور کډې (١) ه
راپسې راورسيدے. صبحدم د هغه خايه هم روان شو ولې لره (٢) خاښت ورغلو. تر
نمازپښين هورته پاتو شو. لوښي غله هيڅ نۀ وو ضرور شۀ کوچ مو وکړ. د انارو کڅ لر
ورغلو شپه مو په کرکنو مرکنو تيره کړه. د مهمنديو کډه بيا زيرې وته په غربين پريوته. مو
چې ورپريوتو ابراهيم اخو خيل په اتماني وۀ سرې مې ورستول. لوښي موښي غله ئې راوړه
هلکانو ساعت تيرے پرې تير شۀ. دا واقعه طرفه راپيښه شوه. طمع مې نۀ وه چې تر مينځ
هم ماتيږي. يا به ختک زمونږ په سر لښکر وکا. رادرومي به په دا جنګ. خو مونږه د نفا
په سبب له خايه پاڅيدو. اما د جنګ سوبه زمونږه وه. پنځوس [٢٦٦] جنازې مرې ويشتل
د بهرام د لښکر واخستے شوے. د کار سوارۀ پلي ئې يا مړۀ يا زخمي شول. د هرې تې
ختک ومړل. زمونږ يو مراد خان ومړ. څو خلمي زخمي شول. غرض چې نوره طمع
عزيزولي پاتو نۀ شوه. بولاق د پټيالي د زيرې هم راغلل. ضرور شۀ لاس چې مات شي غاړ
لره درومي. مهمندي هم راغلل سره مصلحت وشۀ. زمونږ کډې په راجګړ (١) راغلے
مهمندي خوک په جمو په غريبه زيرۀ پريوتل. اتۀ انۀ شپې تيرې شوے. د قادر خان مور مې
بعضو هلکانو سره و جمو ته روانه کړه. د عابد خان کور ورسره وۀ يو دا چې ګوره کومه چ
دوخاره شي. سپک به شو بل لکه ننواتې په تري بولاق چې کومک راسره وکا. دا عالم
کلکه ورسيد. زۀ د راجګړ (٢) نه روان شوم. د تاپې په لارې په عين باد سموم کښې ورسيد

دي تخت كوټ (۳) لره تازه راغلي وو ورسره مل شوم مقبول خاص خيل هورې په كوټ فـخدار وۀ. د كوره سره هورې وۀ. د خورمو د سينيو سره سخته ميرځي وه. يوه مياشت مې د ديو تـر مينځ ردوبدل وكړ. يو ګونه بند تړ ئې سره وشۀ. يو څو كدخدايان سره يو ځائے شول سره ئې وليدل. اما شاهي سينے مخل (۴) خـلل كننده وۀ دې ما هم ګناهګار وۀ بلكې كشتني و. دريا خان در ملک ما وې دې ما دے. اما د شاهي سيني وۀ. دا دواړه مخل (۱۴) د كار وو. پهخورمو (۵) كښې محمد يار او بل داد دواړه سره په كار د جرګې سرې وو. وړاندې شول ور ئې تير شۀ. دغه نادان ناكرده كار وۀ. هيڅ مقرره سررشته ئې نۀ وه. زړۀ پرې نۀ بنۀ كيدۀ. پس د خورمـو د سيـنـي د بند نه د ترې فكر راغـے چې كل كار هغه وۀ دې ما اميد په ترې ډير وۀ. هـم مې نژدې ورونه وو. هم څو دې ما جاګير وۀ رعايت مې ئې كاوۀ. په هر شان ناز مې د ديـو اخسـت. چې يـوه ورځ بـه مـې پكار شي. دا هومره چې كوټ كښې وم طمع مې وه چې جرګه به ئې راشي. اما هيڅوک رانغلۀ. ضرور شۀ تيرې (۲) لـره روان شوم. مقبول صاحب بـر څو سـوارۀ نور ور مې ستول. په ناكام يو څو ملكان راغلۀ جرګې ته. دې ما څلور شپې په تيـرې كښې ځائے په ځائے تيرې شوے. پستنه د تريو جرګې لره مكوړيو (۷) ته راغلم. دورته جرګه سـره وشـوه چې د نوې مياشت په فلانه تاريخ به لبنكر راوځي. هر چې حاصل د لارې وې دې تـا سرے دې كښيني اخلي دې ئ. چې دې تا خرڅ د كورونو كيږي. او خپل څوے د لبنكر ايستو لره د حاصل اخستو لره تعين كړه. زۀ كوټ لره راغلم. قادر خان مې څوترې لره روان كړ په څخله ئې كښيناوۀ چې حاصل اخله. لبنكر به وباسو. مدت تير شۀ په وعده لبنكر رانغے. يـحيىٰ خـان بـاز خان مې هم ورپسې روان كړل. ځائے په ځائے وګرزيدل. لبنكر ئې راويـوسـت څـو چې په توتكي راغلل نور تار په تار خوارۀ شول. قادر خان يحيىٰ خان پريشان راغـلـل. حـاصـل ئې هـم نۀ وركاوۀ. تر نورو اولسونو وشرميدم. چې هومره مياشتې ئې تيرې كـړے نتواتې ورغے. خپل اولس ورسره مل نۀ شۀ. بيا مې سليمان ورستوۀ چې كۀ لبنكر نشته يو څـو سپين ږيـرې[۲٦۷] څـو راشي اخر ترې رامعلوم شول چې كۀ رشوت راكا هالۀ به په لبنكر درومـو. زۀ مـحتـاج وم ولـې خبر اشرف خان او تـمامي كلې لره راغلے وۀ چې لبنكر ادرومي. هـر يـوۀ تـه مې ضرور شۀ. لس لس شل شل روپۍ وركړے. په هزار حيله پنځوس شپيتـۀ سـوارۀ راغـلـۀ. راروان مـې كـړل. اشرف خان لره راغلو. خورم هم څلويښت پنځوس كـسـه ورسـره. د پـتيـالي بولاقو څخو مټ هممت وكړ. عابد خان مې ورسره روان كړ. دۀ ته مې ووې چې هر شان چې وې يو مټ په ضياء الدين وكانې. كۀ دغه ځائے وران شي (۱) عذر (۲)به وشي. د ميرباز بدمصلحت په خبرو هغه ځائے پاتو شۀ. سپين كانے (۳) ئې وواهۀ وې

سوۀ. دوه درې سرې ومړل. په هرحال څۀ خو ګوشمال د ځینې وشۀ. نور ملکان د ترېو چې راغلي وو واړو سوګندونه وخوړل. اشرف خان ته ئې ووې چې درځو خو پلار وته وکښه چې څوترې وته وخيژي. نور به درست ترې راوځو. اشرف خان رالره وکښل زۀ وپوهیدم چې نابود او نابکار اولس دے اما ضرور شۀ ورروختم. څو شپې په څوتره کښې ګرزیدم. جرګ سره تړوله شوه لښکر ئې وشلوۀ. زۀ کوټ (۴) لره راغلم. ما وې چې زۀ دا ځل پخپله ورغل هغه ګزار ئې هم کمے کړے وۀ. دا ځل به البته ښۀ لښکر وکا، په وعده هیڅوک رانغلۀ. اصف خان ورسره یو څو سوارۀ پلي راغلۀ. په زړۀ مات په طمع د اخستو کۀ څۀ راکا. زۀ هم پرې وپوهیدم چې سګان دي وجود عدم ئې مساوي دے. متوجه پرې نۀ شوم. شپږم د شعبان کا غفد (۵) ورځ دوشنبه د تخت له کوټه روان شوم. د عابد خان سرے راغے چې ځینې (۵ ا) عابد خان سره په لاچې جرګه وکړه چې مونږ به ګنبت لره درومو. شګون مې ښۀ وشۀ. لاچ لره راغلم شپه مې تیره کړه. ځینې (۵ ب) خانه کوچ روان شول. میله ئې وسوه. هغه ورځ ز ګنبت (۵ ج) لره راغلم. ځینې (۵ د) ګانده د کډو سره راغلل. بله شپه هم ورته تیره شوه. شا بیګ بنګښ د جرګې سره دا ځائے راغے. د دوي تر میان هم مات وۀ. ما وته ئې التجا وکړ قول مې ورسره وکړ. چې د لښکره راوجاروخم دې تا سیله به وکړم. رخصت شۀ. زۀ راسو شوم شپه تر میان تاپې لره راغلم. یو دوه شپې مې هورته وشوے. جرګه د بولاق سره موشک وغیره تړول شول. شاهي موشک (۶) همیشه دې ما سره په نفاق وۀ. زمانے موشک په وخت د دۀ د لاسه ومړ. لاعلاج د خان د ویرې په خدمت په یکرنګ ودرید. جرګه سر وشوه اتمه ورځ د لښکر قرار وشۀ. کور ته په راجګړ راغلم. په دا نزدیکۍ کښې اشرف خا لره حسب الحکم د بادشاه فدائي خان راستوۀ. اشرف خان په لاهور ورلره ورغے. په ها آوان چې فدائي خان له لاهوره په کومک د محمد امین خان راغلے وۀ اشرف خان خیر آب ته مخې ته ورغلے وۀ. دا حقیقت ئې د محمد امین خان ځنې وپوښتید. شاید دۀ راست راسه ورته بیان کړ. بیا چې ئې له نوره عالمه پوښتنه وکړه هم هغه هسې ئې ځنې واوریدل. زړۀ ئې ښه پریوته. چې مستجاب ئې مړ کړ. بیا بادشاه وبالۀ هندوستان لره روان شۀ. د مغلو پښتنو لویه نااعتباري شوې وه. د پښتنو کدخدایانو په فدائي خان اعتبار نۀ کاوۀ. اشرف خ بیا ورغے وې لید تر ګودره د خیر آباد ورسره وۀ چې دے په بیړۍ کښې کښیناست اشار ئې وکړ[۲۶۸] چې راوخیژه دې ورروخوت. دا نور عالم هم ورسره وۀ وسواس ئې وشۀ مبادا بیړ روانه کا. بیاسته ئې د بیړۍ ونیوه فدائي خان د دۀ په اخلاص او د دۀ د خلقو په اتفاق خوښ ش ورته ئې ووې چې راسره درومه مرد هالۀ یم چې په مجرد د ورغلۀ د بادشاه تا امرا کړم.

دفورتـه وروې چې قوم قبائل متعلقان لرم. دا هومره عالم پرېښوي نۀ شم. دا دے مهابت خان د دې مـلک صـوبـه دار شـۀ راغـے کۀ له دۀ سره روغه وشي ساعت به تيروم کۀ نۀ وي هر چرته چې نواب دے او بولي مې حاضر به شم. په اقرار ئې خلعت ورکړ. رخصت شۀ. چې له مهابت خـن سره صحبت برابر نۀ شۀ فدائي خان وباللۀ ورغـے. آفريدي آدم خيل يکرنګ راسره ولاړ وو. دريـا خـان هـم ورتـه تاکيد بليغ کړے وۀ چې هر چې فلانه حکم کا هسې کانئ. سړي مې هـرې تپې وته واستول. عابد خان مې هم د جمو په لار ورروان کړ. الله انۀ ورځې په کور تيرې شوے. سامان د توښې موبنې وکړے شۀ. روان شوم. په نيلاب (۱) پوړې شوم. په پلوسی (۱۱) مې ډيره وکړه. (۲) لښکـر راپسې د بولاق رانغے. مهمندي ما لره راغلۀ دا ئې ظاهر کړۀ چې بـولاق شيـخ کـريـمـداد و لښـکر ته نۀ پرېږدي. بلکې موږ ته لې هم وليل چې په دا لښکر مۀ دررمـئ. ګـنـه ډوب به شئ. حيران شوم دا کريمداد مادر زاد دے پلار ئې شيخ الله داد وۀ. زۀ چې د هـنـدوسـتـانـه پستنـه د قيـد له حادثې راغلم پلار ئې وفات کړے وۀ. په حادثه د زينو د بوړې خيلخانه په زيره کښې راغلې وه. د شيخ الله داد نه ئې څۀ مروت ليدلے وۀ. په هغه سبب دا کـريـمـداد ئـې راوړ دې مـا د وړانـدې ئـې کښيښ. سفارش ئې زينو ډير وکړ چې مې وليد متـفـکـر شـوم چې نۀ لاس نۀ پښې هسې يو څيز دے چې په غاړه ئې سرے واخلې لکه ګڅوړه هسـې ئ. د دوي بـه څـۀ حـال وي. هـغـه خـور دريزه کنده منده به ساعت تيروي. هغه د پلار ځائے په دۀ باندې مقرر مستحکم کړ. آبي مزکه وه سل څتې غنم ترې کيږي. دا شان احسان مـې ورسـره وکـړ. چې زمـونـږ کـده پـه جـمـو راغله دے د بولاق سره راغلے وۀ دم د دولت خـواهـی ئـې وواهـۀ. اما جـنـونـي طـرز بد مغزه سړے دے. دې ما هيڅ د دۀ کار و زړۀ وته نۀ پـربـوت. نـقـش ئـې په څپل عالم هم ناست وۀ. بولاق ئې د لښکر نه منع کړۀ. دوه ورځې مې مـقـام وکـړ. څـوک پيدا نۀ شۀ. نۀ وړاندې تلل نۀ پستنه جاروتل. مهمندي هم کم راغلل خو تـوکـل مې وکـړ. روان شوم. نظامپور لره ورغلم. آفريدي د عابد خان سره راغلل. حق تعالیٰ کـارسـاز دے زړۀ مـې ښۀ شۀ. ببر وته مې سړے استولے وۀ د ديو ملکان هم راغلل. اوريا خيلو هـم قـرار کـړے وۀ. چـې مـونږ به نظامپور لره درشو. دوي رانغلل. مصلحت ئې دا وشۀ چې د ميـر کـلان پـه غـاښـې به اوريا خيلو ته ورپريوځو. بهرام هم د سونيالې غاښے نيولے وۀ. روان شـوم پيـاده مې په ښې او کين وخيژول. سوارۀ د غاښې په لارې روان شول. پياده نمر خاتۀ وته عـجـب ښـۀ وختـل. د هـغـه لوريه څنې فتح خيل څوک راغلل اما زمونږ پياده د غرۀ و سر ته وختـل لـکـه بـاد. هـغـو چې وليدل نور وتښتل. بهرام هورې مات شۀ. کښته د سونيالې په خلۀ کښې مهـراجـي وتـه لاړ. قيـمـت اوريا خيل لا د ځايه يکرنګ دولت خواه وۀ.[۲۶۹] د مير

کلان په بدر باندې راته ودرید. وې وئیل چې و کاوز درې وته وړاندې شم رهبري کړم. او کۀ شاه کوټ (۱) وته. ما وئیل هر چې دې تا رضا وي. دې ما رضا خو په شاه کوټ ده. ما وې وړاندې شه دے د وړاندې زۀ ورپسې لښکر واړه هم په دا دود روان شۀ. پیاده د کونډ کنډاؤ په (۲) لار رالره راغلل. بختي (۳) لره ورغلو هورته ډیره وشوه. په اوریا خیلو غزا وه ځائے نه کیدۀ. خپل شامت ورته ولاړ وۀ ما سرې ورستول را وۀ مې بلل په ډار ډار راغلل. دلاسه مې ئې ورکړه ځۀ خو اطمینان لې وشۀ. صاحب موشک کلا خان (۴) کلي د لښکر سره دا ځائے راسره ملۀ شول. شپه ئې تیره کړه د اوریا خیلو هسې وارخطا وۀ چې مهماني ئې هم راوړې نه شوه. بهرحال لښکر ئې هم هسې بې دله غونډې له ناکامه راغے راسره ګډ شۀ.. بختي مې وسوه په شاه کوټ ورغلو شاه کوټ مو هم وسۀ. هورته مې تنبې وترلے روان شوم. واړه سره (۵) کم زیات ځلور زره لښکر به وۀ. تیرسو څونصو سوارۀ نور پیاده. درې تنبې وترلے شوے یو ختک دوه آفریدي په دا شان روان شو بختي لره ورغلو. هغه کلے وسول شۀ. (۶) سپین کانړے (۷) د فتح خیلو د دروازې کلي دوه وو هم اور پرې پورې شۀ. بهرام راته مورچل د غلو په هوتي (۸) ترلے وۀ. د نغارې آواز ئې واوریدۀ شۀ. نښان ئې ولید شۀ. آفریدي ځۀ خو بې زړۀ شول وښوریدل. ما دلاسه پردلي وکړه. د ختک تنبه مې وړاندې کړه دیو راپسې روان شوم. خو چې د لکړی خوړ (۹) ته لښکر کوز شۀ. بهرام وتښ هزیمت شۀ. شالے فتح خیل په موړه (۱۰) ولاړ وۀ راغے راته ئې ووې چې ځیو هغه لښکر مات شۀ تار په تار وتښتیدۀ سوارۀ ورپسې حکم کړه ما قهر ورته وکړ چې کۀ مات شۀ څوک دې کافران نۀ دي. مدعي مغل نۀ دے خو بدبخت ختک دے. کۀ قتل ئې کړم فائده کومه ده. خپل زور به کم کړم. تنبې ترلے ورپسې تلم. د شیخ رحمکار په مزار باندې زمونږ قراول سورو خوځۀ مټ پرې وکړو. ځلور پینځۀ سوارۀ ئې پریستل. اسونه ئې ونیول. یو اصغر مشي خیل پریوست. بل سید د بوړې نور هم متفرق یو ځو پلي ومړل. اکثر سوریا خیل بند هم د افریدیو په لاس کښیوتل. غوا غیله اولجه هم وشوه. په ولي (۱۱) ډیره وشوه. ګني، ګاځرې، لوبیا په افضل آباد کښې ډیر وو. د کلیو غلې هم وافرې وے. د ځینې خیلو مال زهوزاد واړه څوک د نیلاب په غاړه څوک په غرۀ کښې حصار شول. که حکم مې وکړے په سیند په غرۀ به د قتل د اولجې ځائے نۀ وۀ. دوراندیشي راته ودریده. واړه لښکر مې ټول وساتۀ. بدو ته مې نۀ پریښول. د سرائ په کوټ د قیامت ساعت وۀ. تمامه شپه عالم تر سینده پورې ووت. بیړی هم ماته شوه. هجوم وۀ. څوک په کوټ کښې پاتو شول. بهرام بدفرجام د حکیم د بنادې ضیاء الدین وغیره پورې تر سینده په حال تباه ناست وو. په شپه مې عبدالجلیل خاص خیل د څو سرېو سره[۲۷۰]

ورستاوۀ. د ضیاء الدین کـلـے ئـې واړه وسـۀ. محمد گل د دۀ وروور دم د دې لورې واهۀ د اشرف خان مال متاع د عابد خان د صدر خان د دۀ کره په طریق د امانت ساتلے وۀ. څۀ قدر مال په هغه ورځ څنې راوړے شۀ. ډیر پاتو شۀ. د دۀ خونه ئې ونۀ سوه. یٰسن خیل ډنگ ډنگ (١) ته په شپه راغلل سرې مې ورستول دلاسه مې د واړو وکړه. ورته مې ووې چې خوړې وته واوړئ. دیو هـم ومـنـلـه. سبا مې تنبې وتړلے روان شوم. د خپل کور خانې (٢) ادب مې وکړۀ سرائ مې پـریښـوه د آوې پـه لار تلم. د ایسوړیو (٣) پـه بـرابرې (۴) پـه بـادشـاهـې لارې کښیوتـلم. ایسوړې ډنگرزې، شیدو نړی (۵) دا کـلـي مې وسول. خیر آباد (٦) لره ورغلم. دیره مې په نړیاله وفرمائیله. هومره ودریدلم دروازې مې په خپل حضور وسوے. نور مې حکم وکړ درست خیر آباد، دغه لوېې حویلی سرې لمبې شوے. ډیرې لره ورغلم د اټک د کوټ توپـړنـه ویشتـل شـول. پـاس بـه زمـونـږ تـر سـره تیـریـدل. چـا چا هغه ډیره پریښوه. اما زۀ کښیناستم. دوه جوړه نـغـارې هلکې راسره وے. وفا ډم شادیانه د فتح په ښۀ طریق وهله. د اټک د نـغـار خـانـې نوبت هم په وهل شۀ. اما تر هغه هومره نغار خانې زمونږ د دیو نغارو فرق وۀ. فیـروزې عـجب ښۀ نوازش هره چار ئې فرق لري. شپه تیره شوه سبا اتفاقاً کوچ مقرر شۀ. چې پـلـې سوارۀ آراسته ودریږې. د اټک و عالم ته به مهله ورکړو بیا به روان شو. د آفریدیو عـالـم بې سر رشتې دے هم هسې روان شول زۀ هم ورپسې روان شوم. د کاوز درې په دره تر خیـر آباده تر مندو خیلو دا دره پُره د لبنکر (٧) وه. ښـه ننداره ئې وشوه. ورغلو د غاښکې (٨) پـه تـوے مې ډیـره وکـره. دا د غـرۀ میـلـې چې نژدې وے وسوۀ شوے. یٰسین خیلو (٩) کډې خوړې وتـه روانـې کـړے وے. امـا څـنه افریدي څنه مهمندي د وروستو لبنکر لره راتلل هغه پریښ شول هسې خبر نۀ وو چې دغه کډې په حکم خوړې لره درومې. لاس ئې په مال د دوې ولګاۀ. یو دوه تړولې غوایۀ ئې بیل کړۀ. د کډو عالمو وهم وکړ. په ستنه وجاروتل. دا خبر په مـا وشـه بـد مـې ومـنـل ولـې عـلاج ئـې نۀ وۀ. سبا کوچ وشۀ. د کړنگ په غاښې نظامپور لره راغـلم. افریدي رخصت شول. صله د دې خدمت د مالګو حاصل مې ورته معاف کړو. یو څو سـوارۀ ئـې پـاتـو وو درې څـلـور شپـې دې مـا په نظامپور وشوے. باران ودرید. عابد خان مې رخـصـت کړ چې یو گشت د نوښهر په نواحي وکړه. افریدي بې استقلاله شول. په تلۀ د عابد خـان سـره راضـي نـۀ وو. رخـصـت شـول. عابد خان، ملا عثمان زینو وغیره خوانان تر شپیتو پـوړې سـوارۀ د سـونیـالې په غاښې لاړل. د زاخیلو د یوسف خیلو (١٠) مـال ئـې د قرمزي په غاښې (١١) راوسـت. شپـه ئـې پـه اسماعیل خیلو شوه. ما لره په غربین راغـے د اوریا خیلو ملکان مې د نظامپور نه رخصت کړي وو چې کډې راپریباسي. ملا کمال او محمد او

عبدالرحمٰن دا دري کسه راځخه وو. په غربین کښې مې معطلي وکره. کلې د اوریا خیلو رانغلے. محمد مې رارخصت کړ. ملا کمال وغیره سره [۱۷۲] د غربین په غابنې راجګړ لره راغلم. په مجّرد د راتلو کښېل د اشرف خان راغلهٔ په دا مضمون چې منصب مې اضافه شهٔ. وطن تري بولاق ئې راکړ. دا خبر چې د اشرف خان راغے خوشوقتي د هر چا پرې وشوه. زمونږ کوورونه چې د تخت په کوټ کښې وو د تخت هوا پرې مخالفه وه. د خورمو (۱) هم څهٔ حال د خدمت د سلوک نهٔ وهٔ. اکثر تیژن شوي وو په تنګ وو ما لره ئې وکښل چې مونږ له دې خایه وباسه. د قادر خان مور لا په جد وه بیماره وه. (۲) لکه چې اور په کلي ولګي عالم تري ووځي هسې لوے هلک تري ووتل. تاج بي بي بیماره وه په دا وتل کښې ومره. په موجب د دې د وصیت د فقیر (۳) کره وروړهٔ شوه. د نیا د څنګه بنخه شوه. نیک بخته لور مې وه قرآن خوانه. کتابونه ئې لوستي وو. په طاعت په عبادت کښې وه. حق تعالي ئې وبخښه. زمونږ کوورونه چې د کوټه راوتلي وو په هوتیو کښې معطله وو. په دا تاریخ راجګړ (۴) لره راغلل سره مو ولیدل. په دا سفر زمونږ د لښکر هیڅوک ونهٔ مړل. یو دوه اسونه په کار راغلل. شاملي افریدے وهٔ هغهٔ ته مې اس سروپاۍ ورکړ. اصغر چې سور پریستلے وهٔ کنده کاري جیبه مې د سرکاره اخستې وه ورته مې وبخښله. په نظامپور په جد په رخصت شهٔ. په اکراه مې رخصت کړ دیرش سوارهٔ به وو لاړل د دولت سره څلور پینځهٔ تنه پاتو شول چې راجګړ لره راغلم سروپایونه مې ورکړل. رخصت مې کړل. یوه بادله څیره مې هم اصغر لره واستوله. اګر چې دے یو ناکس صفت دے. مصرع:

بدان را نیک دارا ے مرد هوشیار

بیا ورسره سلوک باٸده دے. د دیو ناکسو د بې ننګی به څهٔ وایم. یوه قصیده د تخت په کوټ کښې مې وئیلې وه واقعات پکښې درج دي. د دیو حال احوال هم پکښې راغلے دے. هغه قصیده دري پنځوس بیته ده. مطلع ئې دا ده. قصیده:

پرورده کهٔ د مغلو په نمک یم	د اورنګ له جوره هم له غریوه ډک یم

په آخر د دوي حال دے:

سکه ورونه مې تري دي حال ئې دا دے	د بولاقو نه لا لري یو څپک یم
په دروغ دروغ وعده وعده خلاف دي	ما غلوي ورته په مثل د کودک یم
تُف په ږیره د همه وارو بارکو	لا دې ما په ږیره هم کهٔ زهٔ بارک یم
په برګویټ کښې د څیني په میرا خیل کښې	داغ په زړهٔ د مندهنږ عیسک میشک یم

څو ورځې چې تیري شوے بنکار مې د زیړي وکړ. تر سینده پوري لویه پره (۵) وشوه. بیا

رارجاروتم. دوه شپې مې په مندونړيو (٦) کښې وکړے. د غرهٔ ښکار د وزونو، د سرژو وشهٔ. و کور ته راغلم. وزونه، بزې، سرژې مې کور ته راوړے. شاه بيګ چې التجا راته کړې وه يے درپيے به نې خطونه راستول چې دې ما سيله وکړه. کوهاټ وواهه. دريا خان وته مې کښل وکړل تاتار خان وررور ئې راستوهٔ ملکان د اکاخيلو د آدم خيلو ورسره راغلهٔ. په راجګړ کښې مې مهماني وکړه. جرګه سره په اتفاق وشوه د کوهاټ د وهلو عزيمت وشهٔ.[٢٧٢] لښکر تيار شهٔ ګنډيالي (١) لره ورغلو. لا مونږه کور وو چې لعل بيګ، سعيد خان، خواص توغے وغيره ملکان په ننواتې راغلهٔ چې ننګ به د پښتونولي کړو. دا مغل چې را کښې ناست دي لرې به نې کړو. پښتانهٔ يُو مهٔ مو ورانوئ. په ګنډيالي چې ورغلو شاه بيګ لره مو سوارهٔ واستول چې دې تا مدعي راغلي دي تهٔ هم راشه. هر چې دې تا رضا هغه به کړو. يوه شپه تيره شوه رانغے. بله شپه مو وکړه نور سوارهٔ مو هم واستول هغه نامرد قصباتي بازاري په سپين ميدان ټکنے شهٔ نهٔ راتهٔ. خط ئې راواستوهٔ چې تاسې لعل بيګ سعيد خان وغيره چې راغلي دي دورې نې وورځنيو. هله لښکر کوهاټ لره راوليو. هله به ورسره مل شم. د کوهاټ کوټ به رنيسم. حاجي عبدالله وغيره به هم تر تيغه تير کړو. دا شان ترضيق (١١) ئې ډير څهٔ کښلے وهٔ. اکثر ملک ميري په کوهاټ کښې د ما مدعيان دي. استخوان مو سره مات شوے دے. ما په څو داهسې کار کاوهٔ چې ما لره راغلي بيا مې وژلے. بخت د لعل بيګ وغيره په دا خبره د شاه بيګ و ما غصه راغله بې دماغ شوم جرګه مې د افريديو سره وکړه هغه کښل مې ورته واستول. دوې هم بد ومنل. اختيار دې ما وهٔ هر چې ما وې دوې هم هغه کول. لعل بيګ سعيد خان وغيره مو سره په دلاسه رخصت کړل. هغه خط د شاه بيګ هم و دوې ته ور کړے شهٔ ممنون شول وې ونيل چې دا احسان چې تا په مونږ وکړ کهٔ مردان يو تر پيړيو به ئې هير نهٔ کړو کوهاټ راڅخه لاړ وهٔ ګويا تا د خپله لاسه و مونږ ته راکړ. دوې کورو ته لاړل. زهٔ غورزې تول (٢) لره لاړم. ورپسې لار مې جاري کړه. آصف خان داروغه ور پريښ. سيني مروزې مې سره د لار په بخره ساز کړل. د طنبل (٣) په غابښي راپريوتم. کور ته راغلم. جرګه مې لا په ګنډيالي کښې چې ښکښ مې رخصت کړل د افريديو سره وکړه د نوښهر د وهلو مصلحت مو سره وکړو. تاتار خان د جمو په لارې خورې وته پريوت. لښکر ئې د افريديو تيار کړ. ما د ممن تورے را په هسې ترې بولاق سره جمع کړهٔ. د غربين په غابښي خورې ته پريوتم. د تاتار خان خبر مې واخست. دې د بوړيو په لار جښا کور لره راغے. ما دوه مقامونه د قرمزې په غابښي د قيمت خان اوريا خيل کره وکړل. راپسې ورسيدل. د قرمزې په غابښي اسماعيل خيلو وته کوز شوم. د افريديو لښکر هم هغه ورخ راغے. بعد از ردوبدل کوچ مې

جبې (۴) وته وکړو. هورته ورغلو خلوزي رانغلل غرګي وته ئې ماتې وکړه. طرفه کوتاه اندیش ګروه دے. هم دې ما نیانه. (۵) هم جاګیر هم عمر ختکو سره تیر کړے څو رنګه رعایت مې ورسره کاوۀ، هیڅ وۀ. پس د دریو پهرو لس دولس سوارۀ مې د ملک سلیمان سره وروواستول. د دیو کلي ئې وسول. نمونځ چې وشۀ کوچ مې وکړ. په ډاګونو (۶) باندې تنبې وکړے شوے. روان شوم اووۀ اتۀ زره لښکر وۀ. دوه تنبې ختک یوه تري هولاق، درې تنبې افریدي یوه اکاخیل بل ختوزي. بل عاشه خیل. د پیر پیاوي (۷) په کلي ورغلو اور مو ولګاوۀ. د زاخیلو د یوسف خیلو کلي (۸) پاتو شول. ملکان د بهادر خان[۲۷۳] د زیړې د سورو سره روئیدار راغلي وو. په جبه کښې د نوښهر (۱) د تانه دار د باره خیلو (۱۱) کښل هم راغلي وو. خواب مې ورستولے وۀ چې مخې لره څوک راشي. دوې په غرور د کوټ د جمعیت چې درې زره عالم پکښې موجود وۀ هیڅ ئې د کوته خوزولې نۀ وو. هیڅ رانغلۀ. چې نوښهر وته ښکاره شو. بیا مې تنبې اراسته کړے دارو مړدکي مې و توپخانې ته ورکړۀ. افریدیو په غوره مشرق رویه، جنوب رویه ونیو ختکو مغرب رویه شمال رویه روز روشن نیمه ورځ وه چې کوټ وته نژدې شو. ځوانانو په کوټ منګلې ولګولے. په سر سوارې په یو پهر کښې فتح شۀ. د ختکو په مورچل کوټ ته ځوانان اول ورپریوتل. بیا آفریدي ورننوتل. مغل د پښتانۀ قتل عام وشۀ. افریدي عالم اولجه ګیر دے. اولجې ئې راواخستے. لا په کوټ کښې جنګ کیدۀ چې دوې راووتل. ختک پکښې پاتو شو بلکې تر کوته پریوتل. زۀ دروازې لره ورغلم په خان مې مټ وکړ. عابد خان قادر خان دواړه راسره وو. دروازې دپاسه غلیم تیر اندازي سنګ اندازي کوله. ختکو ځوانانو په تبرو دروازه ماته کړه ورننوتل. هغه په کوټ کښې ختک (۲) هم خلاص شول. ډیرې اولجې د اسونو د اوښانو د نقد و جنس وشوے. په کوټ هغه خلیل تانه دار یو څو مهمن زي باره خیل (۳) په خان شوي وو. لاس پښې ئې وهل چې پیژندګلي وشوله چې پښتانۀ دي. ترحم مې پرې وکړ له مرګه پاتو شول. نمازدیګر مې نغاره وکړه روان شوم. زما نیت د شپې وۀ. اما افریدي اولجه ګیر وو راڅخه لاړل. زۀ ورپسې روان شوم. پښتنې بندي شوے وے. دې ما په زړۀ کړانے وے. وپوهیدل چې راڅخه به ئې رانیسي لاړل. زما دوه مقامونه هورته وشول. بند هر چې په ختک کښې وے واړه مې سره تولې کړے ازادې مې کړے. قصد مې وۀ چې بیا به نوښهر وته ورشم. خونې کوتې به ئې وسیزم اما هسې واورې باران سره نازل شۀ (۴) چې په باران کښې لوند خوشت د میر کلان په غابښې نظامپور لره راغلم. (۵) هورته د ځینیو کلې بې ارامه شوے. د دوې د آرام دپاره سار[illegible] توے (۶) لره راغلم. شپه هورته شوه راجګړ لره راغلم. نمایانه سوبه وشوه. مغل پښتون

حیران شۀ. چې پــه سـر سواری دا هسې کوټ ونيو شۀ. په دا کار کبنې عـابد خان بنۀ تـلاش کـړے وۀ. د کوټ په مورچل د خټکو په سر باندې ولاړ وۀ خوانان ئې گمارل. د کډې خـلميو بنۀ تلاش وکړ. تختې ئې د کوټ و سر ته ورواخستے مټ ئې وکړ. د کوټ عالم برهم شۀ ررپرپوتل. شپږ بنۀ خوانان د خټکو په کار راغلل. دوه مهمندي يو ببر يو سينے يو د کډې اســماعيل خيل بل هم ميره خيل. چې کور ته راغلو اولجه مې حکم کړه پنخک ئې ويوست شـې. قسمت ئې کا چې سررشته ئې وشي. بې سررشتې اولجه گير عالم راخخه جدا شي. په خو' خـو خـلـه اولجې چې شوے وے اول کار وۀ. د دهن گرمی دپاره هر چا چې اولجه کوله هغۀ به وړه اوس چې دا حکم وشۀ څنې عالم وۀ چې ډير اسونه مالونه [٢٧٣] ئې اولجه کړي وو. هغو بـه خپـل کـاوۀ. عابد خان وته به ئې ونيل کول دے هم د هغو په رائ شۀ بلکې څنې څيـزونه ئې بې حکمه واخستل دا کار ئې په ما بنۀ ونۀ لگيد. هغه هسې بهادري توره ئې چې په کـوټ بـانـدې کـړې وه پــه دا سهـل کـار ئې ضائع کړه. گنه خو ډير ورځنې خوښ وم. "حب الدنيا راس کل خطيئة" ورتـه مـې قهر وکړ بيا دا حماقت گوره چې مرور شۀ. مکهډې (١) لـره بې رخصته روان شۀ. حق تعالیٰ ډير کرم راباندې کړے دے اووۀ ويشت اتويشت خويه ئې راکړي دي اما لکه غوارم هسې قابل خوے مې ونۀ ليد. بلکې ناقابل مې هسې وليد چې د هيچا کـړ، بـه هســې ناقابل زوولي نۀ وي. لکه بهرام بدفرجام او سعادت بې سعادت اشرف خان هم کـۀ بد دے هم غنيمت دے. عابد خان بد نۀ دے اما کۀ د هندکيو رنگ ورځنې تراش (٢) شي خـدائ دې ئـې بنــۀ کـا. مـرد شـجـا ع خـو لـيـدۀ شـي. بهر حال اميد دے چې کـۀ خدائے ئې راوبخښي په ځائے د څوي ليدۀ شي. لا ځلمے دے قباحت ئې هم ډير نۀ دے. زړۀ مې په قادر خـان بنۀ کيږي اما سخن شنو نۀ دے دا خوئ ئې کۀ لاړ شي د زړۀ سر دے. خدائ دې ئې طالع مـنـد کا. يحيیٰ خان مرد آدمي بنکاريږي. شرم، حيا، مروت، جرأت، امانت، ديانت بنۀ لري. صـدر خان يگانه دُر دے اميدواري ده چې کۀ خدائے ئې لوئ کا طالع ورسره مدد وکا جوهر د قـابليت لري. واړه غټ واړۀ په خدائ سپارلي. خدائ دې ئې په دولت، نعمت په عصمت په مسلمانی کبنې لري. (٣) د ديـن دنيا سعادت دې د واړو نصيب شي. القصه له نظامپوره سارۀ تـوے لـره لاړم. د ببـرو پـه کډو کبنې مې شپه تيره کړه. کور ته ورغلم کوروونه په راجگړ وو پــس لـه يوې ميـاشتې راجه جسونت سنگهـ (٥) او شـجاعت خان (٦) د ډيـره لـبنکره سره له هـنـدوستـانـه پـه کـروفـر راغـلـۀ. چې په اټک راغلۀ ما لره ئې کښل راستول. هم دلاسه هم دهشـت ډيـر څۀ پکبنې کښلي وو. ما هم په طريق دليرانه ځواب ورستوۀ. په خير آباد ئې څو مقامه وشول. لبنکر ئې دې ما په لوري راستوۀ، ما هم خپله تعبيه وکړه. اخر مغلو په ما باندې

مصلحت ونهٔ لید. پښاور لره لاړل. شیر محمد خان هم د دې لښکر سره راغے. ورپسې په گودر راپورې وت. ملاحظه ئې ډیره کیده. افریدیو راته ووې چې بچهٔ بدهنر دے (۷) د پریښو نهٔ دے. ما دا مصلحت منظور نهٔ کړ. ما وې پښتون دے اوولس اتلس کالونه د اورنگ زیب بادشاه له لاسه په هندوستان کښې خوارووزار گرځیدهٔ. اوس چې نژدې وطن لره راغے مروت نهٔ دے چې زهٔ سد راه شم. تاج بیگ هوتے، ترسم سینے دا سکان مخې له ورغلل. د شاهي موشک خو پدر وهٔ. پرې اختر شهٔ چې دے راغے د کوهاټ بنگښ هم بدرقه ورلره راغلهٔ. دے ئې کوهاټ وته تیر کړ. شیر محمد لا د ځایه دې ما د مهم لاف کړے وهٔ. زهٔ خبر نهٔ وم چې تر دا حده پورې سک به وي. چې ننگ به د افغانیت نهٔ لري. اخر چې کوهاټ لره راغے د شاهي موشک په مصلحت لښکر ئې د بنگښو ټول کړ. د ښکار په بهانه راووت. زمونږ د کلي عالم خصوصاً مهمندي مضطرب شول. د اشرف خان خط هم د لاهوره راغلے وهٔ چې ما وطن بیاموند. ما هم د کلي عالم ورپسې سست کړ. چې خیر خوړې لره دې ورشي. [۲۷۵] عالم کوچ وکړ زمونږ د ستر عالم د سرائ عالم سره د غربین په غاښې وخوت درگے (۱) لره ورغے. زهٔ په راجگړ کښې وم دوه درې شپې مې تیرې کړے. د غرهٔ په خوا مندونړیو (۲) لره ورغلم. قصد مې دا وهٔ چې د مهمندیو کلي په وړاندې کړم. په نیلاب به وخیژم شاهي موشک شیر محمد لره خط واستوهٔ چې فلانه په مندونړیو (۱۲) کښې د لږ عالم سره ناست دے. کهٔ راشے دستگیر به ئې کړے. هغه مادر به خطا ایلغار راباندې وکړ په تاپي (۳) راغے زهٔ هم خبر شوم د مهمندیو کلي مې وخیژولے سبا پرې بیا راوجاروتم. شاباش په احمد او په چندل (۴) په وارو افریدیو شه ښهٔ راورسیدل. د الله داد په کلي (۵) ورته ټول وشهٔ. هغه مادر به خطا خبر شهٔ. شباشب لکه په ماتې د تاپیه وجاروت. نور ما لښکر د ختکو راوغوښت. مهمندي، اوریا خیل، ببر ځونصو پونصو کسه راغلل قصد مې دا وهٔ چې شاهي موشک به خانه کوچ خوړې لره راولم. ورغلم را وهٔ مې لیږدوهٔ او زهٔ ځوترې لره روان شوم. په دا قصد چې هغه لښکر به ټول کړم. په کوهاټ به راشم. بنگښ کهٔ خدائے کا نیست و نابود به ئې کړم. شاهي موشک عیار زر راوجاروت (۶) بیا په تاپي کښې کښیناست. زهٔ غلط شوم کهٔ ما د دهٔ گردن وهلے وے هالهٔ نور کار کړے ښهٔ به وو. اما د دهٔ قضا نهٔ وه. زهٔ په نور کنگاش مشغول شوم. دے پاتو شهٔ. ځوترې لره ورغلم وعده مې سره کړې وه. احمد د سلو (۷) سورو سره ځوترې لره راغے. واړه اولس د ترې اتفاق وکړ. لښکر ئې تیار کړ ما احمد ورستاوهٔ چې تهٔ وردرومه. د افریدي لښکر تیار کړه چې دا لښکر د دې لوریه د افریدیو لښکر د هغه لوریه کوهاټ لره رادرومي. نور واړه بنگښ درسمند بډه خیل وغیره خطونه ئې

راغلل چې مونږ په دا کار دې تا ملونه يو. دا مادر به خطا ورک کړو، بلکې د کوهاټ بنګښ هم يا لـه ډاره يا له ننګه په دا کار راضي وو. په دا مينځ کښې خبر راغے چې شجاعت خان له ډيره لښکـره سـره په ګنداب کښې ډوب شۀ. جسونت سنګهه راوتښ. ايمل خان لويه فتحه وکړه. (٨) ډيـر پښتـون پـه دا کـار خوښ شۀ. شير محمد خوار حيران شۀ. هيڅ ئې نۀ زده وو چې څۀ وکړم. شجاعت خان د دۀ وسيله وۀ ورک شۀ. دے مغلي وۀ د مغلو زور کم شۀ. دريا خان لـره چې دې مـا خـطونه ورغلل مصلحت ئې دا وکړ چې د نوښهر کوټ فلانه مات کړ ايمل شجاعت خان ډوب کړ. زۀ به ګوښے په کوهاټ ورشم. چې د نور چا نوم راسره نۀ وي. د فتح دې مـا پـه نام شي. اولجه بند د کوهاټ هندوې به افريدي راوړي. وعده دې ما د دۀ احتـر وه. دے درې خلور ورځې پښوا راغے بنۀ درآمد ئې وکړ اما کوټ وۀ. سر سواري خو د نوښهر کوټ وۀ چې په يو شان خداۓ آسان کړ. دا کار هسې نۀ وۀ. بائده وو چې دې ما د دۀ لښکـر سـره يو ځائے شوے وے. هغه څنې بنګښ به مو خپل کړي ورنه اړولي وو دے به ئې د کوروړنو سره په لاس راکړے وۀ. د خداۓ رضا نۀ وه دريا خان ډيره خطا وخوړه. بنۀ ځوانان د افريديو پريوتل. تتر (٩) د دريا خان وررور پريوت. لوے قباحت وشۀ. افريدي مات شول. سل کسـه کـم و زيـات د دوي مـړي پـه ځـائـے پـاتو شول.[٢٧٦] شير محمد بنګښ چې په ځان حيـران وۀ د غيبـه فتحـه ئـې وشوه. نور ئې ځائے په ځائے خطونه واستول د افريديو سرونه ئې پرې کـړل د رئيسـی په ګودر ئې پوري کړل د اټک په لار پيښور لره ورغلل. د شير محمد ميرانـه پـه مغل شهره شوه. اس سروپاۓ سرب دار او سل زره روپۍ انعام ورلره راغے. خداۓ خپـل کړۀ کا. زۀ لا په څوتره کښې لښکر ټولوم ناګاه خبر وشۀ. ما باور نۀ کاوۀ چې بې دې ما دمصلـحـت بـه پسو دا کار چا کاوۀ. اخر په واقعي خبر راغے. د دريا خان کښل هم راغلل. چې پـه مـا دا هسې جاري وشوے. کۀ لښکر راشي بيا به څۀ کړو. دا ئې هم خطا وه کۀ هسې ولاړ وے زۀ بـه څـوتـره کښـې پـاتـو بيـا به په يو وخت مو فکر د کوهاټ کاوۀ. ما هم د شرمه لښکر ورلره راکوز کړ. خورم د کوټ (١) چې دې مـا باوري وو هغه مختوري هم د بنګښو سره شول. تري لاچې لره راکوز شول بنۀ لښکر وۀ. ساغري هم د عابد خان سره په بنۀ جوړ کوټ (١١) لـره راغـلـل. آتـش غـل مستي خيـل د شـاهي موشک په فريب ګمراه شوے وۀ. رشـوت ئـې خـوړلے وۀ څنځو حرامزادګي ئې کړه. سميل خيل دې ما سره جوړ متفق ولاړ وو. امن تـري آتــش ګـمـراه کـړل. پـه لښـکـر کښـې څنځو دوه رنګي خبرې وشوے سوارۀ مې ورواستول. د کـوهاټ د کوټ د څنګه د ګدائي خيلو کلي ئې وسول. (٢) وعده مو کړې وه چې افريدي چې بيا راکوز شي د سراۓ لښکر هم راکوز شي هله به کوهاټ وته نژدې کيږو.

پـه بنگښو يو د قيامت ساعت وهٔ. دري څلور زره روپۍ ئې هم آتش لره راستولے چې خائے پا
خـائـے ور کـړه. پـه سميل خيلو کښې دولت خان سهل ترې دے، ډير طامع دے. هغه هم شايد
چې څهٔ خو هغه اکوړے شوزے هم آلوده کړ زهٔ ورځنې آزرده شوم ډير بنګښخل مې آتش وته
وکړل. په سبا سور شوم قصد مې وشهٔ چې افريدي لره به ورشم. د سرائ لبنګر به راشي. چې
زهٔ کوهاټ لره ورشم واړه خټک به راشي. کوهاټ به قبل (۳) کړو. خواجه بصير لره راغلو
هـورتـه پـه دنـدو کـوز شـوم. سميل خيل ايسوړي راسره وو خورم، درويش هم د آتش په لو
شـول. مـصـلـحـت دا وهٔ چې مـونـږ بـه تـول سيني ته ورشو افريدي لره به سرے ورستوو کـ
افـريـدي راکوز شول کوهاټ لره به ورشو او کهٔ نهٔ وي سينے به راوليږدوؤ. په کوټ کښې ب
لې واچوؤ په دا مصلحت وهٔ وروستو خبر راغـے چې آتش فساد په لبنګر کله کړ را نهٔ ليږدي
بـلـکې سيـنـې متـفـرق شول سميل خيل ايسوړي هم راغلي دي وې وئيل چې اوس خو راځ
خـوتـرې لـره بـه خو کهٔ افريدي راکوز شي او د سرائ لبنګر راغـے هله به بيا لبنګر وکړو ز
بـدماغـه شوم دوي مې رخصت کړل. د زړهٔ سره مصلحت دا وشهٔ چې افريديو لره به ورشـ
هـر چې افـريـدي وائـي هـسـې به وکړم. غرمه را سور شوم د بنادي خيلو (۳) مشـرق رويه پ
گـنـډيـالـي راغـلـم د افريديو خبر مې واخست. چا وې چې نن به افريدي راکوز شي. زړهٔ مې
[۲۷۷] بنـهٔ شهٔ چې کهٔ راکوز شي زهٔ به له دوي سره ملاقات وکړم لبنګر به تول کړم. هورتـ
مې شپه کړه. شباشب مې کښل دريا خان لره وکړهٔ چې ښهٔ دې وکړهٔ چې راکوز شوے. زهٔ هـ
درغـلـم. دې مـا لا کښـل ورغـلـي نـهٔ وو چې زمونږ سره څلور سوارهٔ افريدي يو د حسن عل
خـوړے کمال خان خو چې کور ته ورغے پلار لره ئې خبر ورستوهٔ چې فلانه راغلے دے د خټکـ
لبنـګـر خـور شـهٔ. حسن علي د بنګښ سره څهٔ خو انول درلهٔ بل شان ئې دا خبره شهرت کړ
لبنـګـر د افريديو وويريد هم خو چې ئې واوريدل لا په شپه تار په تار شول. زهٔ سبا جمو خوا
لـره ورغـلـم چې په هغه لار به دريا خان لره ورځم. ناګهانه لبنګر د افريديو وليد شهٔ چې بيار
راغـے پوښتنه وشوه وې وئيل لبنګر خور شهٔ. دريا خان په سنډه بسته (۱) دے متحير شوم چ
دا څهٔ کـار وشـهٔ. بـان صـدر خـان، سکندر خان دا هلکان چې راسره وو لا پخوا مې هغه شـ
رخـصـت کړهٔ چې کور ته ورشئ لبنګر د مهمنديو زر راستوئ. دا کار دا هسې وشهٔ. بله شـ
شـوه مـا لـره ضرور وهٔ چې فاتحه مې د افريديو و دريا خان وته وکړے چې په جمو ورننوتم
پلبنت (۲) غـابنـے دے و سـنـډه بسـتـه وته پريوتم. باران هم وشهٔ. تحويل د ثور (۳) وهٔ لو
خـوشـتـهٔ دريـا خان لره ورغلو. فاتحه مو ورته وکړه. شپه مو په کليو کښې سره تيره کړه. ـ
مو سره جرګه وکړه مصلحت دا وشهٔ چې تهٔ هم له افريديو سره تيراه لره راځه. چې د ديو نه

رخصت شوم په څپره (۴) راپـریوتم. خوږې لره راغلم کورونه زمونږ په نظامپور وو د گوهر خـان مـور مـې راوغـوښتـه پـه تـانـو بـانـدې ما اتهٔ انهٔ ورځې تيرې کړے. د بدنامى په سبب تر نظامپور ور نهٔ رغلم. چې لوے هلک مې واړه وليدے. بابادل، ملا عثمان راغلهٔ. ردوبدل سره وشـهٔ. دوي مې رخصت کړل. ما کوچ وکړ جلال خان، سکندر خان، گوهر خان عجب خان راسـره وو او د دوي ميـنـدې، تيـراه وتـه روان شـوم. د افـريديو کلې هم روانې وے. چې زهٔ ورغـلم ډير خوښ شول. افريدي ډير اخلاصي عالم دے. د سرښيو غوندې ئې ډيره شته. کوچ بـه کـوچ تيراه لره ورغلو. په لارې هر ځائے افريديو ښهٔ همراهي کوله لکه ضيافت او مشغولا وغيـره. پـه هـر مـنـزل بـه ئې زهٔ راضي کولم. خصوصاً چندل، د دهٔ خيلخانه عالي خيل. واړو تقصير نهٔ درلهٔ. احمد غريب لا فدوي وهٔ. حسن لا اخلاص ظاهراوهٔ. (۵) نيمه مياشت مو په بـاړه کښـې پـه ځـه خيـلـو پـه اکـا خيـلـو کښې بلکې زياته تيره شوه. د خوږې نه د محرم په وروستی ورځ روان وو درسته صفره د هغه (۲) پـه لارې پياده تيره شوه. په غره د ربيع الاول په تيراه وختو د تند (۷) په لارې ميدان (۷) لره راغلو. جوزا (۸) تحويل کړے وهٔ غنم لا ډاډه نهٔ وو په سرطان (۹) کښـې ډاډه شـول. د تيراه اوبهٔ درست پشکال لکه يخ هسې وے دننه په کوټ (۱۰) کښـې څـملاستو. څلور مياشتې مې هورې تيرې شوے. افريدي واړه په ښهٔ طريق راوسيدل. د يوسفزيو د ملکانو کښل راپسې راغلل چې دلې راځه. د اورنگزيب بادشاه کښل راجه جسونت سنگهه تر ميان هم راغلهٔ چې کهٔ راشې ډير ښهٔ به ورسره وکړم. ما ايمل خان او دريـا خـان وتـه د ځيـنـو چارو اشارت وکړ [۲۷۸] هغه زمان قابو د هغه کار وليد نهٔ شو بې د ديـو د مـصـلـحـت مـا لـره شرم وهٔ چې عليحده کار مې کولے د يوسفزيو کښل مې وربنکاره کـړهٔ. اورنـگزيب بادشاه په حسن ابدال (۱) راغے شهزاده (۲) د ډيـر لښـکر سره د بنگښ په لـورې راغـے زمونږ فکر دا هسې وهٔ چې په منې به بيا تهوله په کوهاټ وکړو چې بادشاه راغے لښـکـر پـه بنگښ ورغے هغه کار هم پاتو شهٔ. نوي فکرونه تر ميان شول. خواه ناخواه تيراه نه راروان شوم. په ديو غريبانو ژړا غوغا دې ما د رفاقت وه. اما نصيب هسې وهٔ په اخر د جمادي الثاني د تيراه نه د يوسفزيو په لورې روان شوم.راز علي او حسن علي (۳) موسي وغيره ښهٔ ښهٔ سوارهٔ (۴) بـدرقـه راسره وو. پـه بازار (۵) ورغـلـم. هـورتـه ايـمل خان پـه مخـه راغے سره کښيـنـاستو. دے تيراه لره راتهٔ. وې ونيل چې راسره وجاروخه ما وې چې کهٔ زهٔ پوهيدلے چې تـهٔ بـه راشـے زهٔ به دې تا راتلو ته معطل وم. اما اوس روان يم افريديو ډير ستنولم ستون نهٔ شوم کـهٔ اوس وجـاروخـم څـهٔ خـو عيـب دے. يو څو خبرې مو سره وکړے روان شوم. افريدي مې رخصت کړهٔ. سروپائ مې هر کدام ته ورکړ. د څخوبي (۲) په لار د ايمل خان سرې راسره

ډکې (٦) لره راغلم. شپه مې هورته تېره کړه. سبا بېرې راغله پورې شوم. ورو ورو پ
مهمندو کښې تلو واړو ښۀ پښتونولي کوله. په ښۀ روش راغلل ضيافت وغيره ئې په ښۀ طريق
وکړ. ځائې په ځائې راسره وو. تر خپل حد حدود نه ئې تېرولو. مهمند (٧) مې ښۀ عالم وليد
خصوصاً نظر مهمند عجب خوان وۀ کمال خان د دۀ ورور. زۀ پرې ډېر مئين شوم مرد وۀ
ننګ پکښې ډېر ليدۀ شۀ. غرض چې د پنډيالي په لار تر سينده پورې راغلو ملاګورې
راغلل تر سينده ئې دست په دست په مينه محبت راپورې کړو. يو اس د جلال خان د سوارى
سيند يوړ. نور په ملاګوريو کښې مو شپه شوه. ملاګورې سل کم و زيات راسره د پله
چندې په لار تړوتي (٨) لره راغلم. دا ځائې اتمان خيل کرلاني وو. زمونږ طمع د اخلاص د
تپاک ورخنې ډېره وه. اما هسې بيګانه طور عالم رابنکاره شۀ لکه غوبانۀ شپانۀ. له هغه ځاي
خپلو ختټکو لره راغلم په کډې کښې اوريا خيل وو. عثماني خيل راپيزي ختټک ډېر
خوشحال شول. عثماني خيل متحير شول چې دا څۀ رنګ راغے دا به څۀ شي. خينو ونيل چې
ښۀ وشول چې راغے. څنو وې لکه شجاع يو مغل به ورپسې راشي. (٩) يوه شپه هورته وم
ختټکو غريبانو غوا راته حلالې کړے. د الله داد خان خواب راغے چې تۀ دورته مۀ اوسه. دغا
ځائے ميدان دے د لنګر کوټ مغل جوړ ګوځونه ناست دي. يو ځائے دره د غرۀ ونيسه. رستم
(١٠) لره لاړ شوم. ښه دره ښې اوبۀ ښې اوني. د ختټکو هورته ډېر ښۀ ښۀ کورونه وو. ترې
وو. لکه په کور کښې هسې کښيناستم. ملک رسول عثماني خيل سکه د همزا خان (١١
نيوې په دا کښې وۀ. بې د يوۀ ملک رسوله نور د واړو زوال وشۀ. اشنائي ئې هم راسره نۀ
کړه. اخر معلوم شول چې د همزه سپے والے هم و ديو سکانو وته دے څو مياشتې دې ما په
رستم تېرې شوے. اوزګار ناست وم بازنامه نظم پښتو مې هورته ووئيله نور حقيقت د يوسفزيو
څۀ وکښم. پس د څو مياشتو همزه ورسره ملکان ئې راغلل. [٢٧٩] په دا مدت کښې الله
داد خان هم رانغے. باوجودے چې بيا ما په دۀ هسې مهرباني وکړه لکه په خپل فرزند. غائبانه
څو رعايته مې ورسره کړې وو. د مغل د زړۀ دپاره ما لره رانغے. پس د هغه چې نور ملکان
راغلل دے هسې طور خجل راغے عذر نامشروع به ئې وايۀ اما واړه هيڅ.. پس د ملکانو د
راتللو جرګې معرکې ډېرې وشوے. اما واړه هيڅ مصرع:

سالے کہ نکوست از بہارش پیداست

رشه ئې مغل بنده کړه. هغه کار هم تر سره نۀ شۀ. الله داد خان ئې برهم کړ. مندنړ لره ورسره
لاړ. هورې بارې تر ديو مندنړو ليه ښۀ وو. لښکر ئې وکړ. په نوې کلې ورغلو. تر ګودره
ورپورې شوم. مصلحت دا وۀ چې د قتلان په ګړى به وردرومو. سک همزا (١) هغه کار خور

کړ. زهٔ مصـري خان امازے دواړه آزرده شو. اما څهٔ فائده وار تیر شهٔ. کنه هغه هسې قابو وهٔ چې کهٔ نـر نـوښهـره پـورې دا ملکونه وهلے وهل به شول. د هغې ورځې راهسې دې ما امید ورخنـې وشـليـد. همزه بدبخت به څهٔ کړل خو په خلهٔ به ئې زمونږ سره د ننګ افغاني خبرې کولے. پټ به ئې مهم سازي د مغلو سره کوله. اخر کار ئې معلوم شهٔ. دا سګ چې هغه د مغلو سـره کوله الا بلا ئې تر ستوني تیره وه. کهٔ د مغل راوتښ روسياه نمک حرام شهٔ. هم پرواه نهٔ لـرې څـهٔ شـرم څـهٔ حیا. اخر پکښې ظاهر شول. خوړے ئې د لنګر کوټ د مغلو لره دا اووهٔ اتهٔ ورځې دې چې سـل سـوارهٔ ورسـره واسـتوهٔ. نـن تـاريخ چې شپږم د جمادي الاول سنه غفو (۱۰۸۶ هـجري) پوره يو کال دې ما په دا ملک وشهٔ. واړه د دې سګ په شامت هيڅ کار تر سر، نهٔ شهٔ. خان (۲) عليين مکان چې په برمول راغے دا قصيده ئې ووې قصيده:

بيـا لـــه کـومـــه راپيـدا شـــهٔ دا بهـار چې پـه هـر لورې ئې ملک کړهٔ يو ګلزار

دا قصيده په کليات کښې کښلے ده. (۱۲) نـورو يوسفزيو چې خوينبان نهٔ وو لا څهٔ مروت ئې څـهٔ خـو وکـړهٔ. د دهٔ د لوريه يو تش ست هم ونهٔ شهٔ. بلکې يو باز ئې په پښاور کښې راستولے وهٔ. تـريـنـاک د شلو ملو روپيو بل جُره پرمات د کاره وتلے صدر خان لره ئې راستولے وهٔ چې پـه دوه روپيه چا نهٔ پيرود کور پر وهٔ. يو اس ئې کهنه په سرائ صدر خان ته ور کړے وهٔ. شايد چې لـس خله به ئې ياد کړي وي چې ما بازونه اسونه ور کړي دي. په جهان کښې به خسيس، خبيث، پليت، شوم ممسک ډير وي اما په دهٔ باندې ختمه ده. دا سګ عجب چې لا تراوسه په يوسفزيو کښې چا نيست و نابود کړے نهٔ دے. درست يوسفزي لوے هلک سره دے پيژني چې دا هسې سګ پليد څيز دے يو هسې اولس دے چې بيا پکښې روزګار کوي. اوس به ئې شـيد چې فکر براصل وشي. ملک عبدل ملک اختر وغيره ملکان دا په تازګی ما لره راغلي وو بـعـضې فرار شوي دي. کهٔ خدائ کا زهٔ به سوات لره وخيژم تر دا پورې خو بې د بازونو د ښکـار بـل هيـڅ هسې کار ونهٔ شهٔ چې زړهٔ مې پرې خوښ شوے. پس له دې به ګورو چې څهٔ وشي. مونږ چې له تيراهه د يوسفزيو په لورې راغلو د سګ همزا په سبب يو کال دا دے غبث راباندې تير شهٔ. د خيبر په لورې د خافش (۳) پـه لورې ښهٔ ښهٔ کارونه د ايمل خان دريا خان د لاسـه وشـول.[۲۸۰] فـدائـي خـان د درسـت هـند لښکر ورسره څو مياشتې په ايلم ګودر په جمرود تيرې کړے. په شرے کيرے په جابې. په جابې په هر لورې تردد وشهٔ. (۱) دې ما مشر خوړے ناپـوهـه د مـغـلو په خبرو غلط شهٔ. اول ئې د مغلو فوځ ورسره واخست فدائي خان په شرے کيره (۱۱) کښې دے ئې په آدم خيلو :فريديو پسې د خوړې په لورې تعين کړ په قصد د آدم خيل روان شهٔ. خپله ښنه ئې پخپله په تبر ووهله. هغه افريدي چې زمونږ شرم خدائ په

خائے کړے وۀ هغو په خائے کړے وۀ. بائده دا وو چې تر هفت پښته پورې د ديو احسان مو نۀ هيـرولے دے ناعاقبت انديش پرې ورغے . اما دا نور ختـک چې ورسره پرې دار وو. بيا اوريا خيـل پـه دا کار راضي نۀ وو دې ما په زړۀ پوهيدل چې په دا کار فلانه په هيڅ رنګ راضي نۀ دے . نـور خيـلـخانه خامن مې هرګز راضي نۀ وو په هرحال پرې ورغے . شکست ئې وخوړ مغل ډير قتل شول. ختـک هم ومړل. هسې فاحش شکست وشۀ چې تر خير آباده پورې دے مـغـل سره په تيښته لاړل. حق تعالیٰ سره فضل و کرم وکړ. او کۀ نه هيڅ حال پاتو نۀ وۀ.هم به دې مـا د افريديو نور عمر خائے د السلام عليکم پاتو نۀ وۀ. هم دغه هومره خائے دې ما په غرۀ کښـې چـې ورتـه تـکيـه شـي. خوار سپک شۀ. هم هغه ورځ د آخور (۲) پـه لـوري واړه مغل بـنګښ چې د مغلو بهادر وو شير محمد ورسره جنګ د افريديو سره وشۀ. هورې هم بنګښ مـغـل سـره مـات شـول. حـق تـعالي ستر پوښې وکړه ګنه هغه شکست ئې نۀ وے دې ما نادان خـوي خپـل کـار د خپـلـه لاسه خوار کړے وۀ. دا صحبت په هر شان چې تير شۀ. د آخور لار څـخـو وشـوه. نـور فـدائـي خـان ايلم ګودر لره ورغـے . هورې هم په باړه په دوه تو ے لـبنکرې نـنـوتـے ورکزي ورته رجوع وکړه. په صلاح د ورکزي دا لور ئې پريښې. جمرود وته ورغـے بـادشاه ګرزبردار ورلره راواستول چې يا دروه په خيبر ننوځه يا مره. لاعلاج په خيبر ورغـے غـوريـه خيـل، خـتـک، ورکزي افريدي څنې ورسره. ايمل خان دريا خان په خيبر ټوله نيولې وه. درسـت مغل پښتون پرې راغـے د کارنامې جنګ وشۀ. واړه لښکر رامات فتحه د پښتانۀ وشـوه. ډيـر مغل قتل شۀ بيا ضرور شۀ مغل لره د بازار په لار د ورکزي په مصلحت روان شۀ. پـه هـغـه لار د آوې تـر ننـګـرهـاره ورغـے چې فدائي خان ننوت د دوآبې مغل مکرم خان (۳) شـمشير خان (۴) دواړه وروڼـه و شـيـخ ميـر خويه ډير لښکر ورسـره د کرپې په لار ننوت. په خـافـش ورسـره ايمل خان دريا خان جنګ وکړ. تحويل د جوزا وۀ زور آور جنګ وشۀ. مغل مـات شـول. شـمشير خان د دريا خان د لاسه په خافش کښې پريوت. مکرم خان ويشتلے دوه پـرهاره خوړلي راروان سراسيمه حال د باجوړ عربانو باجوړ لره روان کړ. فوځ ورسـره خاص د بـادشـاه باوري خوانان وو څوک چې په خافش تمام شول. څوک باجوړ لره په تيښته روان شـول. شاباش دا ځل تر کرلانيو (۵) هـم ښـۀ کـار ئې وکړ. خافش لره راغلي وو په لارې هم ورپـسـې راتـلـۀ. مـغـل پـه مخه ورغلل جنګ ئې ورسره وکړ. اکثر مغل تر باجوړه پورې تمام شـول. کـم ننه وت. خزانه د مهرانو ئې په هاتيانو اينبې وه ترې پاتو شوه. واړه سرۀ مهران وو يـو فيـل ئې ووژې يو پرهارژلے خزانې ئې ترې راکوزې کړے. تالا ترغه ئې کړے اوس بيا چې تاريخ اووم د دريم خور سن د غفو (۱) دے. بيا سربلند خان له لښکره سره له حضوره راغے.

قصد لري چې مکرم خان وغیره امرایان چې په باجوړ دي ورځو به راخلاصوؤ به ئ. ایمل خان او دریا خان ورته تیار ناست دي. ما وته ئې کښل راستولي دي. ملک عبدل اختري طالې ما لره راغلۀ چې مونږهم د همزه په سبب تر تا پورې مختوري یو د لاسه مو لښکر وغیره هیڅ ونۀ شۀ. اوس همزه مخ تور کړ مغلي شۀ خوږے ئې لنګر کوټ لره ورواستوۀ اوس هر چې نۀ وائے هغه به کوؤ. زۀ هم د دوي په مصلحت دا یم سوات لره دروم. هر چې د خدائ رضا شي هغه به وشي. [۲] دا نقل د محمد امین خان د دور را په هسې د خان علیین مکان له بیاضه چې د دۀ په خپل دستخط مسوده وۀ وکیښ شۀ. د یوسفزیو په برمول [۳] کښې ئې مکان د ډیرې ونیوۀ. شاید د هغه کلي آب و هوا زبونه وه عجبه رباعي ئې خپلوفرزندانو ته کښلے وه. مجازي معني هم لري خالي له حقیقي معنو نۀ ده. رباعي:

غریب ئې بولم د غربت بدله — پسمن شو واړه د بابا دله
نابود بولاق دي کۀ بروړې دي — راغلے مۀ وے تر برموله

چې سوات لره ورغے د لښکر په طلب سوات نامه ئې څو بابه وئیلې وه. د سوات د عالمو حقیقت به ښې واړه معلوم شي. **سوات نامه:**

به دوران د شاهجهان بادشاه خواني وه — میسره د زړۀ هره کامراني وه
سرائ له سواته فاصله لري دیرش کروهه — چې ورکوز شي تر دریا د سوات تر کوهه
درې خیزونه مې د سوات د زړۀ په یاد وو — نور ئې هر څۀ په حیات و ماته باد وو
یو خسران چې په حضور د وادۀ کار وۀ — بل ئې بوئ د نرګس زار دریم ئې ښکار وۀ
زۀ نوکر وم یوسفزیه روګردان وو — څکه ورغلۀ تر سواته دې ما ګران وو
ملو خان د وادۀ چار دې ما په زړۀ کړه — زۀ په کور د صدر مور ئې را وادۀ کړه
تماشه د نرګس زار وه کۀ د ښکار وه — په پیرى کښې راپیرزو د کردګار وه
سوات مې واړه لکه مال کړۀ سر تر پایه — خبردار ئې شوم له هره هره ځایه
ملک د سوات د ملوکانو د نشاط دے — په دوران د یوسفزیو وران رباط دے
و شمال وته ئې غر وبلورستان [۴ الف] دے — شرق کشمیر غرب ئې کابل او بدخشان دے
هندوستان وته تور غر لرې بد غابني [۵] — پرې خاتۀ به د لښکرو په غوغا شي
تر کابل نه ئې هوا د اوړې ښه ده — د کابل هوا ترخه د دۀ خوږه ده
په هوا کښې د کشمیر په آب و رنګ دے — حیف دا چې کشمیر ارت دے، دے تنګ دے
طولاني دره تر دیرشو کروهو ډیره — عرض ئې دوه کروهه یا یو یا تیروبیره
له مشرقه ئې دریاب درومي مغرب ته — په کج راست ئې وئیل مۀ کوه کاتب ته

په هر کلي په هر کور کښې ئې ولې څي هم ئې خوري هم ئې هر لوري ته غلې څي
نۀ پرې لار شته نۀ بل کار نۀ ئې بل سود دے خو يو کنج گوښه له خلقو غله بود دے
کله کله پکښې هسې ارزاني شي چې په دوه تورو د شلو مهماني شي
هم سرې اوبۀ چينې لرې هم واوړې نۀ په سوات باد سموم شته نۀ گرد خاوړې
هر هر ځائے د سوات د ملک ملوکانه دے بې سرداره بې حاکمه کوه خانه دے
ملوکانو عيش عشرت دے پکښې کړے په هغه هنر کښې نۀ دے دا وگړے
[۲۸۲] پکښې لويې منارې شته بتخانې شته لوے کوټونه حويلی د زماني شته
د ميوو دے د گلونو د بوستان دے د ملوک لائق په وخت د تابستان دے
دوه ځيزونه دي د سوات تحفه تر واړه گل رخساري ئې کافرې باز دا دواړه (۱)
د سوات ملک چې پکښې روغې حويلی دي په هر کور کښې گلزارونه سهيلی دي
د سوات ملک چې درست لائق دے د باغونو يوسفزيو برابر کړ له راغونو
په هر لور کښې فوارې دي آبشارونه ښۀ ښهرونه ښۀ سرايونه بازارونه
هسې ملک هسې هوا هسې جويونه نۀ ځايونه نۀ باغونه نۀ بويونه
کال په کال د ملک په هسک کاندې باختونه بې لښکرو پخپل ځان کاندې تاختونه (۲)
يوسفزيه ډير چرکين لرې ځايونه آلوده گنده بد بوئ لکه سرايونه
کۀ په سوات کښې په نظير دي وروړې ماشي د منگنو (۳) برورو (۱۳) ونيل په چا شي
پکښې دوه ځله تبژن په برورو شوم هر هر ځائے داني داني په خو مورو شوم
څو سرې هومره ئې سپې په هره خونه په انگن کښې ئې چرگان گرځي سلگونه
درسته خونه ئې نيولے په کندوانو په گنده روزگار بتر دي تر هندوانو
باني زيه (۴) ئې روزگار کا چې سيالان دي خواخو زي ئې نور څۀ نۀ دي بقالان دي
په هر کال ئې دو سو تير سو باز نيول شي کافر گيه ئې په شکل شمائيل شي (۵)
کۀ بل ښکار د سوات په ملک کښې په مقدار دے په هر لوري ئې تل دل د زرکو ښکار دے
مرغاويه ئې (۶) د سيند تر سروپا شته د نا اهلو د توپکو پرې غوغا شته
هم گاوز بزونه سرژې هم کوتپه پائ اما ورکې کړے توپچيانو څۀ به وائے
چې د سوات سره ترلے دے ملک ډير (۷) دے د يوۀ سردار تر سرو پايه تير دے
د چترال سرحد د سوات سره قريب دے غر او سم ئې آبادان جريب جريب دے
و چترال وته ئې لار د کوهستان څي تر چترال په پينځۀ ورځې کاروان څي
درې ځلور مياشتې دا لار ښه وې روانه ډير آفت لرې له برفه له بارانه

تلهٔ راتلهٔ د خلائق په دا لار کم شي — مګر کار په بدرقه د ملک سم شي
یوه لار د هندو کوه ده ترکستان ته — بله لار دا د چترال ده بدخشان ته
بله لار چې د بتمن (۸) خې تر کاشغره — بله لار کهٔ په مورنګ (۹) خې لره بره
دا خو لارې په سرحد د هندوستان دي — نورې لارې په سرحد د خراسان دي
یوسفزیه په شماره تر حساب تیر دي — اما واړه ګاؤ خرونه دي کهٔ ډیر دي
د مغل نمک مې وخوړ شپږ پیړی (۱۰) — ما د زرو پکښې روغې کړے پیړی (۱۱۰)
رعیت مې یوسفزیه درست ختک وهٔ — په عزت او په حرمت کښې مې څهٔ شک وهٔ
د مغل دپاره ما توري وهلے — پښتنو به راته کړے ډیرې شکنځلے
کهٔ ورکزیه کهٔ بنګښ او کهٔ یوسف دي (۱۱) — دیو همه دي ما د تیغ په تاسف دي
پښتانهٔ مې په زرګونو دي وژلي — په سرونو به ئې خرهٔ غوایهٔ وولشلي
لا تراوسه د سرونو ئې انبار دے — په اټک په پښاور کښې ئې منار دے (۱۲)
په ‌دوران د اورنګزیب بادشاه په بند شوم — بې تقصیره بې ګناهه دردمند شوم
درې څلور کاله په بند د اورنګزیب شوم — خدای چې خلاص کړم انتقام ته ناشکیب (۱۳) شوم
د مغلو زیست روزګار رابانديې اور وهٔ — په صحبت ئې دې ما رنګ لکه تور سکور وهٔ
را په غاړه د مغل منصب په زور وهٔ — تهٔ به وائے [۲۸۳] چې منصب نهٔ وهٔ سور اور وهٔ
ناګهانه په دا ملک فساد بنیاد شهٔ — دې ما هم د تلافي کار په یاد شهٔ
د فساد کهٔ یو بخرے وهٔ ما اور کړو — اور مې پورې د اورنګ بادشاه په کور ک‍ے
درے خان مې د خیبر ګوتې څلے دے — ایمل خان مې د پکړی شملکے دے
چې تنبې مې د ختک د وراندې تللے — د مغل راسره ملے وے سورې پلے
د خپل وچولي په کار دې ما باور دے — څهٔ و ما وته خاتش څهٔ ئې خبر دے
دا اسمان چرخ د فلک وهٔ دا به شوله — اورنګ زیب بادشاه ویرانه کړه پخپله
یکباره ئې په لاس ونیوې ناپسندې — خود په خود ئې په خان وکړلې دا شنډې
دا همه واړه دې ما ظاهر باطن دي — پښتانهٔ چې واړه خوښ له خاته نن دي
کهٔ مغل سره دې ما د زړهٔ اخلاص وے — خدای خبر دے کهٔ پښتون له ما نه خلاص وے
نن د واړو پښتنو په ننګ ولاړ یم — دا چې هسې په هر در هر درنګ ولاړ یم
چې پښتون شوم په دا هسې سپینه ږیره — نور مې خدای مهٔ کړه مغل وایم په خیره
کهٔ مغل و ماته سل وائي خبرې — همګي واړه په ما دي خاورې خرې
دا پوهیږم چې (۱) مغل لره کهٔ ورشم — تر اوله به زهٔ لا په چار بهتر شم (۲)

مخامخ به یو څو ورځې ښهٔ نمانځهٔ شم   پسې شا به حرام خور ګیدي شکنځهٔ شم
په تعظیم (۳) چې ورته ودرم (۴) مخ وړاندې   امراګان به د مغلو خوښې کاندې
په ورتلهٔ به بیا خدمت راځخه غواړي   پښتانهٔ چې سره وژنو دیو پرې ویاړي
پښتانهٔ به راته هم کاندې شکنځلې   چې ئې لاڼې په ناحق د ننګ وهلې
چې په زړهٔ کړم دا یو څو خبرې یادې   نورې واړه انديښنې شي راته بادې
و مغل ته به خبرې په وربوز کړم   سر مې پريوزه کهٔ به سر ورته بیا کوز کړم
نهٔ په خپل نهٔ په پردي یم خو په ننګ یم   په دا ننګ کښې خویه پلار سره په جنګ یم
کهٔ د ننګ پښتانهٔ شته ساعت هم دا دے   په دا ننګ کښې سرومال و ملک فدا دے
دا هم شکر چې مې وتړله توره   دې ما توره په جهان کښې شوه مشهوره
ورځ په ورځ فتح و نصرت تازه تازه شي   کال په کال د ښو مغلو جنازه شي
تر کابله تر اټک په سم په غرونو (۵)   انبارې دي د مغلو د سرونو
اورنګزیب بادشاه پخپله رایت راوړهٔ   کهٔ ئې زر وهٔ کهٔ ئې زور وهٔ دے پرې چاوړهٔ (۶)
په غرزي له هندوستانه راولاړ شهٔ   حبطه خاورې په سر په بیارته لاړ شهٔ
پېښځهٔ شپږ کالونه تیر د دې فتور دي   پښتانهٔ په زړهٔ خوشحال مغل رنځور دي
عاقبت ئې و هیڅ ته څرګند نهٔ دے   ګوره څهٔ شي کار د خدائ دے د سند نهٔ دے
کهٔ حیات په دا دنیا یم بخت مدد کا   یوسفزیه د نفاق خویونه رد کا
اوهٔ میاشتې یم په سوات کښې ګرځیدلے   همه واړو دی عظیم سوګند خوړلے (۷)
ملکان به ئې و خپل سوګند ته ګوري   په لښکر به جملګي سره وښوري
و مغل وته به نن کړم اټک پوله   ملک به خلاص کړم د مغل له غاله غوله
د اټک د پښاور د کابل کوټ څې   لوے هلک کوټونه واړه په دا چوټ څې
په دا کار کهٔ یوسفزیه بې وفا شي   الوداع ده چې دې ما به ورته شا شي
نور مې څائے په څوتره په لوحانې دے   کهٔ څوک وي کهٔ نه ناکام د کرلانې دے
څو ژوندے یم وا به نهٔ ورم له دې هوده [۲۸۴]   مردکي به په وار وار ورشي تر کوډ
کهٔ پیوند د ایمل خان د دریا خان شته   د خوشحال خټک سیلوے تر دا میان شت
ورځ په ورځ به کار بهتر د پښتانهٔ وي   د نن کار به د مغلو سبا نهٔ وي
کهٔ نور واړه پښتانهٔ د مغل آش خوري   چې زمونږه ورته شاه ده واړه شاش خور
خدائ دې نهٔ کا کهٔ له مونږه یو کنډو شي   بیا به هله په چا جوړ د مغل رۀ شي (

دا د خان کلان قصیده چې په احوال د جنګ جدل چې له مغل له مخالفته وۀ

په دا کار کښې چې چا وهلے توري — په مهمندو باندې مۀ شه میندې بُورې
په شنواري افريدي باندې رحمت شه — په صافیو په غلجیو برکت شه
چې مغل د جګدلي (۲) تانه نیوله — نو غلجي ښه په پیوند توره وهله (۱۲)
د خټکو نه یو لک (۳) خټک داخل دي — نور خټک واړه تراوسه لا باطل دي
په ورکزیه په بنګښ باندې نفرین دے — له دیو واړو اولسونو مې زړۀ شین دے
یوسفزیه کۀ وهلے نۀ ده توره — په هاهو شرکت لري بلا ئې دوره
کۀ فرصت وي تر اوله تر آخره — د دې کار به درته نظم کړم خبره
بیۀ په بیل کتاب څو جُزه سره ساز کړم — حال به شرح تر انجامه تر آغاز کړم
چې په دا فتور کښې شوي دي جنګونه — تر کابله خرابي په فرسنګونه
اوۀ به حال د سوات د ملک درته بیان کړم — د دې خلقو کاروبار به درعیان کړم
چې هنبک په کار کښې شي پیدا دا چارې — د ناکس د کس همواري نا همواري
پښتانۀ واړه نادان د جهل کان دي — کۀ ئې واورې یوسفزیه په بل شان دي
مـ د سوات د عالم ښه ننداره وکړه — د هر هر فریق مې پټه ښکاره وکړه
خو په خلۀ کلمه لولي مسلمان دي — په وعده په عهد قول بې ایمان دي
د لږ سود د لږ بهبود د لږ مقصود دي — په اندک له تا خوشنود هم نا خوشنود دي
د خپل سود دپاره ګرمه (۴) یاري کاندي — چې ئې سود نۀ وي بې شرمه (۱۴) یاري کاندي
خبردار کله په شرم په کرم دي — همګي عبدالزوجه عبدالدرهم دي
هم ئې کبر هم ئې حکم هم ئې ناز وړي — په هر څۀ کښې د عورتو ساز نا ساز وړي
یا ئې شیخ ملا په مکر په افسون خوري — یا ئې مال په خپل پردي مکر خاتون خوري
سیراي بدي د لور چې لونه پلوري — په دا څو توکه کښې غرق دي مخ توري
په کم اصل په بد اصل نظر نۀ کا — د تښنکو په لالچ خور او لُور وادۀ کا
اشنائي درسره کا د زړۀ د پاسه — خپل ساتي طمع به کاندي ستا له لاسه
زر روپۍ به دې نقصان کا په روپۍ (۵) — اواره کا درسته غوا د غوا په پیۍ (۱۵)
په تمیز کښې سراسر واړه مبهوت دي — چې ډلۍ ورته ګوهر شبه یاقوت دي (۶)
کۀ په کور کښې خزانې لري د زرو — بیا خوارۀ خوري په شرشمو په ډنبرو
د ادب په کار کښې هسې ناهموار دي — کشر مشر تور و سپین په یوۀ شمار دي

درست عالم ئې د ګوارو په شماره دي تر تاجکو لا په زيست کښې اواره دي
کور په کور ګوندي ګوندي او بد نيتي بيهوده له خانه خوبش بې برکتي
نصيحت به درته وايم له ما زده کړه چې په نه ئې باور کړه په هو ئې مه کړه
مخامخ ئې نور څه نشته بې اقراره پسې شا ئې نور څه نشته بې انکاره
که باور ئې يا په هو يا په کرم کړې د سفله سړي په خان باندې ستم کړې
په درست کال ئې ګوتې نه خيژي له کاره بوتيمار (۷) دي د اوبو په شالي زاره (۸)
يا د سوات خاورې ګنده په کار د کشت دي يا له خايه يوسفزيه بد سرشت دي
ويش قسمت چې د وفا د مروت وه يوسفزيه په دا کار کښې بې قسمت وه (۹)
پول پيسه پکښې د وارو دين مذهب ده انديشه لې خو د سيم او د ذهب ده
[۲۸۵] که يوه پيسه په څه انواع دوه کيږي هم هغه کا هيڅ په بله نه پوهيږي
د دنيا په کاروبار کښې هسې غرق دي نر او ښځې لوې هلک ئې تا به فرق دي (۱)
يو عالم دې پرې سبا شي يا بيګاه شي که په خوب ئې له بندګۍ لاس کوتاه شي
پکښې نه چې يوسفزې په دا طريق دې چې په سوات کښې موندۀ نه شي کوم فريق دې
و ميلمه وته ست بر بر راشه (۲)نشته نه د ژبې چار نه شناخت مهر د زړه شته
اصيلان پکښې بنده غوندې خرڅيږي هيڅ څوک نه وي چې په داد ئې ورسيږي
که مظلوم چرې ملک وته داد خواه شي چې يوه روپۍ بل ورکا دوې سياه شي
که په خله کلمه لولي مسلمان دي په عمل کښې يوسفزي لکه ددان دي
تولا که تبرا که د دين ننګ وي په دا واړه کښې د هر يوه زړه سنګ وي
که هندو کلمه ولولي مرتد شي څوک به نه وائي چې دا په دين کيټې بد شي
هسې خلاص دي له ادبه له تميزه لکه داهِ عربي هندي کنيزه (۳
په هر کار کښې ناهموار نافهميده دي ناديده دي ناديده دي ناديده دي
پکښې نشته ميوه دارې باغې ونې همګي د غرۀ پلوسې دي يا غنې (۴
په وعده په عهد قول بې وفا دي بې ادبه بې تميزه ناصفا دي
در شبه کانې ياقوت ورته يو شان دي سيب شلغم انار بهې ورته يکسان (۵) دي
نه مردانو غوندې مخې شهنکې (۶) کا سپينې ږيرې سره تول شي مړدکې ک
نه ئې قول نه ئې عهد نه ئې بول شته خود د ديو ريش و فش د ښځو پول شت
نه پرې حکم نه و چا څه ورکوينه واړه خان له ګټې په خان ئې خورين
اشنائي ئې خواب خيال غوندې ليدۀ شي يا په مثل لکه باد چې وزيدۀ ش

مبتلا په څو څو رنګه پليدي دي   مريدي دي عنيدي دي نديدي دي (۷)
چې نيکان پاکان ئې دا وي دا ئې حال وي   له بدانو به ئې وايه کوم مقال وي
د بابا د مال يوازې ميراث خور دي   نهٔ په ترور دي نهٔ په مور دي نهٔ په خور دي
چې د ورور ئې جنازه په کور کښې کښيوزي   کهٔ رضا کهٔ بې رضا په ورندار پريوزي
له قاتله خان غلط کا په قصاص کښې   د مقتول په خائے بل وژني په خاص کښې
هر ملا په دا صحبت ورسره مل وي   په ثنا د يوسفزيه وي کهٔ غل وي
دالا څهٔ دي خښې نور قباحتونه   کور په کور سره اخته په شلتونه
هومره ملک هومره اولس برکت هيڅ   کهٔ ئې مال کهٔ ئې دولت سخاوت هيڅ
کهٔ پاليز د ختکيو (۸) څوک ودان کا   پښيلو ته ئې پرې نږدي اوم ئې وران کا
کوم ملک ئې هومره زړهٔ هومره خوارهٔ کا   چې څلور ورځې څلور سړي مارهٔ کا
کهٔ سړي ئې په صورت لکه آدم دي   په روزګار په خوئ خصلت له ديوه سم دي
په غلط غلط خويونه مبتلا دي   په بد خوئ په بد خصلت د خان بلا دي
نه سزا د بدکارانو پکښې کيږي   نهٔ په خپل عقل په ښهٔ سړي پوهيږي
چې څوک ووائي دا ښهٔ دي هغه ښهٔ دي   چې څوک ووائي دا بد دي کله ښهٔ دي
کهٔ په مکر څوک خپل خان پکښې طبيب کا   څوک به نهٔ وي چې ښکاره د دهٔ تکذيب کا
کهٔ په مکر څوک ملا شي يا درويش شي   څوک به نهٔ وي چې خبر د دهٔ په کيش شي
هر مغل چې په سوات راشي شهزاده شي   هر سړے ئې و منصب ته آماده شي (۹)
کهٔ د کلي د اولس د تومن بزرګ دے   و ميلمه وته ئې کتر (۱۰) مکر چرګ دے
خبردار کله په ننګ افغاني دي   کشميري او پکلي وال دي لغماني دي
د هغو چې زړهٔ د چرګې په مرګ ريږدي   مصلحت د سپينو تورو ورته بليږدي
خکه هسې په هر جنګ باندې برے کا   بيا له ترسه جنګ ته نهٔ ځي خان مزرے کا
دا ئې واړه نامردي ده هيڅ کاره دي   خيراتي د جنګ په کار په څهٔ شماره دي
آسوده په مال په ملک په زر دينار دي   د دنيا روزګار ئې نهٔ زده بد روزګار دي
نهٔ ئې خوان نهٔ دستار خوان نهٔ چراغدان شته   درسته شپه ئې د شونتيو بد دُخان شته
چې په نيل په دستار خوان ئې څهٔ څرخيږي   کهٔ زردار وي هم ئې غوښې اوبهٔ کيږي

فصل

ملکان خانان ئې کل واړه خران دي   عالمان شيخان ئې واړه جاهلان دي
چې عبدل عبدل بالهٔ شي پکښې کټ دے   اوس بساند کوته د کلي کتوی څټ دے

د جهان عیبونه واړه سره تول کړه هغه واړه د همزه د غاړې (۱۱) پسول کړه
د تالي (۱۱۱) کۀ درته وایم یو کالے دے ډک شحنک دے د اوګرې کۀ یا تالے (۱۱ ب) دے
د کاچو نمسے لۀ خان دے نۀ ملک دے کالګوچن دروغژن غشے د هلک دے
ملکي ئې په کرم نۀ ده په تُوره په دا واړه توکه مور وه بـاتلې بُوره
کار ئې خکه مسخره حبطه سپک دے خوک چې زیات دے په تپه هغه ملک دے
سود حاصل ئې یا د بډو یا د خواست وي په هر کلي په هر چم باتلې ئې زغابنت وي
د ملک ئې د دفتر پولي پټي وي نوري توري خلورې توی په کټي وي
د ملک ئې کۀ درې نور وروڼه سکه وي پلرې پټے ئې درست ریشه ریشه وي
یوه بخره د ملک وي درې د نورو په کم زیات ئې سره جنګ وي په لشکورو
چې نیکان پاکان ئې دا دي حال ئې دا دے شیخ میان نور پکښې تر واړو لا والا دے
اول حال د عالمانو درته وایم یا له پسه به میان نور درته وستایم
عالمان ئې همګي واړه سفیهه دي نۀ عالم دي نۀ فاضل دي نۀ فقیهه دي
چې د کنز د قدورې شي خان مُلا کا هر حلال حرام په خان باتلې روا کا
نۀ د کنز د قیقو څۀ خبر شوي نۀ په مخ د قدورې مبصر شوي
کتابونه په سر کیږدي خان مُلا کا په هر کلي محلت ګرځي تګي غلا کا
کښیني شرع پریکوي په رشوتونو خان قاضي کا په غلط روایتونو
و هر چا ته مسئلې د سخاوت کا خپله خونه ډکوه بله غارت کا
په مسجد راځه پینځۀ وخته اذان کا چې زکات سرسایه نۀ وي مسجد وران کا
د میراث مالونه خوره له ظالمانو نوم په خان باتلې کیږده د عالمانو
په دا هسې علم برند کښیني مُلا شي ر عالم ته میراث خور د انبیا شي
نۀ ئې کښل زده نۀ لوستل زده تل تګل کا (۱۲) تعویذونه ورکوي په دروغ کښل کا
په ناروغ ئې خوښي لا زیاته تر روغ طشت تعویذ دعا هیکل کښي په دروغ
لا رنځور غریب صحت نۀ وي موندلے چې اخون وي اخستو ته ور نیولے
کۀ په ورکړه کښې څۀ درنګ څخو تعطیل وي په غوغا په شوروشر ئې قال و قیل وي
چې دې ما په خلقو قدرو قیمت نشته د رنځور مې بې تعویذه صحت نشته
چې رنځور له رنځه خلاص شي راته شا کا نور به یا دې چا تعویذ دې ما بلا کا
دا چې زر هسې ناسازې کا آغازې خپل مقصود مطلب حاصل کا په ناسازې
وائي مونږ ته چې نظر د ستر ګو سپک کا خپل ایمان به په دا هومره چارو ورک کا

په دا عام و کړي هسې هيت کيږدي   چې د ديو په رضا خې هر څۀ به پريږدي
چې څۀ ترس له خدايه نۀ کاندې غلول [۱۳] کا   اس به پريږدي زين به باندې په جاهل کا
چې ملا د ميان نور [۱۴] په حکم درومي   هم هغه د سوات په ملک کښې سيری مومي
ميان نور کۀ د خنزير غوښې روا کا   ملايان به باندې زر جوړه فتوئ کا
د ميان نور مفتيان د سوات په ملک کښې دوه دي   الله داد او دوست محمد دواړه يو دي
لږ ئې علم لږ ئې لوسته ډير تقرير کا   چې ميان نور ئې لمسوي هغه تزوير کا
اوس به وايم د ميان نور له حقيقته   چې تر نورو نه ئې لا دې بدخصلته
راشه واوره په دا هومره قباحت   چې په ما باندې ئې جوړ کړو څۀ تهمت [۱۵]
زۀ چې چون په اعتقاد کښې پاک سني يم   په کندن د رافضي د بيخ کني يم
رافضي ئې په دا هسې اعتقاد کړم   په درست سوات ئې په تکفير په رفض ياد کړم
د صديقؓ او د فاروقؓ په عشق کښې طاق يم   د عثمانؓ او د حيدرؓ بنده قلماق يم
آل اولاد د پاک رسول واړه منمه   امامان نيان هم تول واړه منمه
د يزيد پليد په کار باندې لعنت دے   چې د آل سره ئې کړے شرارت دے
د بد ذات مکر په علم کښې لا بد شي   حبشي چې په مخ خال کيږي لا بد شي [۱۶]

فصل

يو کتاب دے درويزه سره جوړ کړے   د سوات خلق ئې له کل عمله [۱۷] موړ کړے
نامعقول مجهول بيان پکښې بې ځايه   پکښې بد د سيد واپه يزيد ستايه
دا احوال به په بل فصل کښې اظهار شي   په مطلب نظر لرم چې در آشکار شي [۱۸]
ناګهانه چې دې ما په نظر کښيوت   په دا حرف په دا وئيل مې نظر پريوت
چې لعنت به په يزيد باندې وائينه   چې په رفض کښې غره بې حله دينه
د حسينؓ په مرګ يزيد کله راضي وۀ   بلکې دے د دۀ د خون متقاضي وۀ
امراګان [۱۹] ئې د حسينؓ په مرګ قصاص کړل   زۀ حيران شوم د يزيد په هسې خاص کړل
بيا ئې دا رو پکښې کښلي دۀ له دينه   چې په آل به رافضي درود وائينه
غه جاهل مُلا چې دا کتاب وۀ کښلے   ما په دا خبرو دے وۀ ډير شکنځلے
مخامخ ئې دا خبرې کړے نمائے   چې تۀ سکه رافضي ئې چې دا وائے
ردبدل د دې خبرې ډير مذکور شۀ   دا مذکور په واړه سوات کښې مشهور شۀ
هغه نيم مُلا روان شۀ و ميان نور ته   خس خاشاک ئې سره ولوستل تنور ته
سرې لمبې د ميان نور په کور شوې بلې   نۀ وۀ څوک چې ئې اوبۀ کړې باندې تلې [۲۰]

ملايان شيخان ئې واړه سره نبې کړه　　　　ګله ئې واړه په دا وير په دا آشول کړه
ميان نور وې چې اخون زمونږ امام دے　　　　درست مخزن پرې نازل شوے په الهام دے
په مخزن باندې چې بد وائي کافر دے　　　　د کافر قتل په شرح معتبر دے
چا به دا وې چې لعنت په يزيد وائي　　　　رافضي دے چې دوازده امام هم ستائي
چا به دا وې نه په توره د کشتن دے　　　　رافضي پ سرو لمبو کښې د سوختن دے
چا به دا وې چې له ملکه د ويستو دے　　　　چا به دا وې چې توبه ده د ويشتو دے
يوه لويه هنګامه شوله برپايه　　　　چې ئې زړهٔ هسې خبرې په ما وايه
ملکان د يوسفزيو لکه خرونه　　　　په ګندګى سره لړلي خلې سرونه
نهٔ ئې علم نهٔ دانش نهٔ فهم پوهه　　　　خو دوستى د درويزه بندې انبوهه
په وئيل د درويزه عقيده څومره　　　　لکه عين په آيت په حديث هومره
درويزه چې بيان کړے خپل کتاب دے　　　　نوم ئې مخزن الاسرار کړے جناب دے
هر بيان ئې ناموزون مجهول بې رنګه　　　　خالي پاتو له دانشه له فرهنګه
کهٔ يوه مصرعه په شل بله په سل ده　　　　نامربوطه ناموزونه په وئيل ده
قافيه ئې لام و دال سره وهلي　　　　په رديف کښې ئې نون واؤ سره پيبللي
قصيده د بوصيري (٢١) ترجمه کړے　　　　عربي ئې تر پښتو مضحک راوړے
هر هر بيت د قصيدې چې درمرجان دے　　　　په پښتو کښې تر اوربشو لا ارزان دے
معما د آزرې (٢٢) ترجمه کړے　　　　تصوف ئې و عالم وته نومړے
ترجمه د شاه ناصر (٢٣) يو څو اشکاله　　　　و عالم ته جوړه کړې له مقاله
مسئلې ئې نظم کړې په پښتو دي　　　　درته څهٔ وايم چې څهٔ دي د بستو دي
په دا هسې شان کتاب ئې مباهات (٢٣ ا) دے　　　　د جامي (٢٣ ب) تر هفت اورنګ ورته ناويات دے
ګنده پز د ګنده خور سره جوړيږي　　　　خاص په خاص او عام په عام وئيل خوښيږي
په حيرت به واړه ګوتې وچيچلے　　　　د اخون په مخزن چا ګوتې کښيښولے
هر سړے چې په مخزن باندې څهٔ وائي　　　　په دنيا کښې تر ساعته به څوک پائي
ملکان شيخان ئې واړه سره ټول کړهٔ　　　　په خپل سحر او افسون ئې ګج او ګول کړهٔ
يو ميان خان وهٔ بل مانکے وهٔ بل سنګر وهٔ　　　　يو سنګر څهٔ خو په پوهه کښې بهتر وهٔ
د لنګر خټک په کلې کښې زهٔ ناست (٢۴) وم　　　　فراغت د توت تر سيوره لاندې نماست وم
دا سکان رالره راغلهٔ زهٔ ئې ويش کړم　　　　په ليدهٔ او په راتلهٔ ئې په تشويش کړم
په خندا ئې راته ووې دا خبره　　　　اوس ترو په اسپه خوشحال خاته زورروره

په درست سوات دې غوغا ګله کړه نهٔ خوب کړے   نهٔ دې غم نهٔ دې پروا نهٔ طلاطوب کړے
میان نور درلره راغے ناست په رود دے   خبرولو لره راغلو زمونږ دود دے
چې دعوئ د چا په مینځ کښې شي بنیاده   ملکان ئې سره ژغوري له فساده
یا ورځه و میان نور وته خواب کړه   یا قبول د درویزه مخزن کتاب کړه
د درست سوات د ملایانو دا رضا ده   چې قبول دې کا دا کار فتنه هم دا ده
ما وې دین د محمد ﷺ دے ما منلے   بې قرآنه بل کتاب دے چا منلے
درویزه نهٔ مجتهد دے نهٔ امام دے   دے هم خام تالیف هم خام مخزن هم خام دے
ملایان د سوات همه زکات خوارهٔ دي   په دانش په دین په علم خبر څهٔ دي
وې ئې دا خواب د غشي د ناوک دے   سکه ترو پلسه میان نور هم درته ډک دے
ملا مې وترله زهٔ هم ور روان شوم   یک تنها مواجهه په ډېر خصمان شوم
چې غریبي درته وغړیږه (۱۲۴) له سکه   کهٔ خلاصے ورځنې نهٔ وې باندې لکه
مخامخ وبله کښیناستو په قهر   په خبرو مو بنکاره کړو سره زهر
ملکان شیخان عالمان واړه سره شول   د خپل لوري ننګ ئې واخست مسخره شول
چې به ما ورته وئیل کول د مشکو   ابلهانو به وئیل کول له پشکو
نهٔ ئې علم نهٔ ئې عقل نهٔ ئې پوهه   فضیلت ورځنې لرې په ډېر کروهه
څوک حکم منصف حاضر نهٔ وهٔ په میان کښې   چې په حق په باطل پوه شوے په بیان کښې
ملکان په ننګ د خپل لوري ولاړ وو   عالمان شیخان په نور عضو ولاړ وو
خدائ د خپلو صادقانو سره مل وي   تر هر چا د صادقانو کار افضل وي
شیخ میان نور پخپله کښیوت په تقریر کښې   ما و دهٔ وهٔ چوټ ور کړے په تحریر کښې
کتابت ئې لا پخوا وهٔ راته کښلے   مشتمل په جهالت وهٔ نابسنلے
نهٔ ئې خط نهٔ ئې املا نهٔ ئې انشا وه   فضولي ئې خپله کښلے په ملا وه
د سلوک د تصوف واړه لافونه   په املا د کاف په ځائے واړه قافونه
همګي ثنا صفت له خپله ځانه   تر هات ئې په څو رنګه په څو شانه
ما خواب د کتابت وهٔ ورته کښلے   په هغه خواب دے درست وهٔ پوهیدلے
ما وې تهٔ لکه ګیدړ په خم کښې شین ئې   خو هم بیا هغه ګیدړ ئې کهٔ رنګین ئې
بناپیرک غوندې په شپه په هوا ډرومې   چې سبا په تا راځي هزیمت مومې
په خطونو کښې چې ځان ر ماته ستائے   ما هم پیژنے چې څوک یم دا څهٔ وائے
خپل صفت دې یوسفزیو وته وایه   زهٔ دې پیژنم چې څهٔ ئې ځان مهٔ ستایه

چې دا هسې احول چشم بد خصال ئې ... د يزيد د در دربان يا د دجال ئې
که څه شرم څه حيا د ګيدي خر وي ... بس وو دا هومره وئيل که ئې جوهر وي
د عروض د علم فن مې وه هم کښلي ... په مخزن د مغلظ قسم ور کښلي
د دانش وئيل مې دا ته لکه باد وو ... له هوا ئې واړه خپل وئيل په ياد وو
دا ئې واړه تر عالم پورې شهرت کړه ... دانسته ئې هومره مکر خليعت کړه
چې دا هومره دعوی نه کړمه برپايه ... د مخزن به دا خبره شي بې ځايه
چې خبره د مخزن بې ځايه کيږي ... نور دې ما قدر و قيمت په ملک کميږي
درست د نفس په هوا غرق وه سر تر پايه ... ګنه ولې به دعوی کړه دا بې ځايه
چې انصاف ئې له ازله په نصيب وي ... په دعوی کښې راضي کله په تکذيب وي
کار د خصم د خپل خپسر و حق ګوني ته ... دواړه يو دي جوړوي د حق سوني ته
ناحقوژن په خپل غرض باندې ولاړ وي ... حق انصاف حساب ئې واړه له زړه لاړ وي
مکر خداې ئې په سر سازه کړه څپيړه ... د کاذب د خلې نه وځي وينا غويړه
الغرض چې ئې خبره کړه آغازه ... ډير ئې ووئيل د خپلې نيا له نمازه
بيا ئې وستايه نيکه په څو څو رنګه ... مستمع شه درست عالم ورته تر درنګه
خداې ئې وترله ژبه له افسونه ... دا وينا د ده د ژبې شوه بيرونه
مونږه کله وايو دا چې يزيد ښه دې ... په مخزن کښې دروېزه ستائيلې نه دې
بل زمونږ مخزن نه شعر نه بيان دې ... بيان شوې نظم نه دې په بل شان دې
که ئې ګورې درست په شان د صحيفو دې ... چې راتلې به له اسمانه له هغو دې
يو پښتو کلام موزون دې بيان شوې ... په معنی کښې دګرګون دې بيان شوې
هغه ځائې چې د رڼتيا مهتاب ښکاره شي ... د کتانو تارو و پود پاره پاره شي
د رښتياؤ کرامت لکه باران دې ... د دروغو سحر دوړې د بيابان دې
چې د ده د خلې نه دا خبرې وشوې ... ته به وائې چې په هر چا اوبه توې شوې
پوهيدم د ما ستاره وه پرې غالبه ... له هيته ئې دا ووته له ژبه
که ئې بيا کړه د افسون ښيوه آغازه ... سود ئې نه وه دې ما ژبه شوه پرې سازه
ما وې بس دې ما مقصود مراد هم دا دې ... مدعي په دا خبرو خود آګاه دې
د يزيد ستائنه ګورئ په مخزن کښې ... هم مخزن نه دې د شعر په هر فن کښې
زه هم دا خبره وايم خلقه خامه ... خود ئې ووئيل خبره شوه تمامه
چې هر څوک په دا خبره خبردار شو ... چې کينه وځي د روغې طلبګار شو

چې تـر میـان د مؤمـنـانـو شـدت بـد دے   بـل سـتـا نـور غـرض تـر دا دعـوې ارشـد دے
تـهٔ پـه نـنـگ د پښتـانـهٔ راغلـے تـر سـواتـه   غـوږ کـاتـهٔ کـړه د عـالـم پـه کـم و زیـاتـه
پـه دعـوې بـه درسـت عـالـم سـره ګـډوډ شـي   د لښـکـر پـه تـولـول بـه فـسـاد ګـډ شـي
دې مـا هـم پـه دا مـطـلـب بـانـدې نظـر وهٔ   بـل مـقـصـود مـې و نـظـر تـه مـخـتـصـر وهٔ
ګـنـه دا پـردې بـه مـا کـړے واړه څـیـرې   یـو ویښتـهٔ مـې بـه نـې پـرې نـشـهٔ د ږیـرې
چې خبـر نـې شـوم لـه نقشـه لـه طـرازه   مـا نـې هـم پـه ږیـره وورژل څـو بـازه
و مـغـلـو تـه کښـل چې شیـخ میـان نـور کـړهٔ   مـا وې نـور دا هـسـې مـهٔ کـړه دهٔ مـنـظـور کـړهٔ
وې نـې نـور مـې لـه مـغـلـو نـه تـوبـه ده   هـر چې نـنـگ د پښتـانـهٔ چـار مـې هغـه ده
د دنیـا خبـره نـهٔ وه کـار د دیـن وهٔ   دې مـا زړهٔ د مـؤمـنـانـو سـره سپیـن وهٔ
دې مـا روغـه پـه ربښتـیـا د دهٔ دروغـه   د میـان نـور سـره مـې وشـوه هسې روغـه
فضیـحـت رسـوا تـر کـوره پـورې لاړ شـهٔ   د وګـړي اعـتـقـاد ورځـنـې لاړ شـهٔ
چې مـې ولیـدهٔ یـو هـسـې کـوږ زبـان وهٔ   چې پـه مـکـر پـه تـزویـر لـکـه شیـطـان وهٔ
پـه اعـوذ مـې د خـدای پـه حـکـم خـوار کـړو   د شیـطـان تـولـے مـې واړه تـار پـه تـار کـړو
مـا وې دے بـه د مـخـزن غـلـطـي دور کـا   دے لا نـاسـت دے د مـخـزن سـره سـرور کـا
یـا پـه څـو رنـګـې تـعـظـیـم د مـخـزن کـانـدې   غـلـطـي نـې تـرې ونـهٔ کښـه لانـدې بـانـدې
مـلـتـې سـره د خـدای دپـاره بـد یـم   آلـوده نـهٔ پـه غـرض نـهٔ ه حـسـد یـم
کـهٔ پـه دا طـور اور پـورې پـه درسـت سـوات شي   مـکـر هـالـه د مـا سـیـلـه مـکـافـات شي
بیـخ بـنـیـاد نـې پـه جـهـان کښـې د وکښـو دے   پـه جـهـان کښـې پـاتـو کـلـه د پـریښـو دے
چې دا هـسـې عـالـمـان هـسـې شیـخـان شـتـه   پـه جـهـان کښـې بـدان ډیـر دې لـږ نیـکـان شـتـه
د دنیـا حـرام حـلال وبـلـه ونـغـاړي   هغـه واړه مـدعـې دې چې خـدای غـواړي
پـه دروغ پـه بـې شـرمـې عـمـر تیـر کـړے   پـه روش د ګـدایـې نـې مـال ډیـر کـړے
د هغـو بـه څـهٔ طـاعـت څـهٔ عبـادت وې   هغـه کـوم بـه نـې د عـلـم بـرکـت وې
نـمـونـځ روژه چې د ریـا دپـاره کیـږي   لـه اسـمـانـه بـه لـعـنـت بـانـدې وریـږي
چې د خـلـق قـبـولـیـت نـې پـه غـرض وې   د هغـهٔ طـاعـت طـاعـت نـهٔ وې مـرض وې
چې پـه صـدق پـه اخـلاص سـره ادا شي   پـه یـوهٔ سـجـود جـنـت بـانـدې روا شي
کـهٔ هـزار سـالـه سـجـود کـړے بې اخـلاصـه   پـه دا هـسـې نـمـانـځـهٔ نـهٔ وې غـاړه خـلاصـه
شیـخ میـان نـور چې خـجـل ورغـے تـر کـوره   پـه دا خـپـل وئیـل پښیـمـان شـهٔ راشـه ګـوره
ـر مـلـک سـره خـواب د دې مـکـار دے   پـه کـمـې پـه قـصـد دې مـا د کـاروبـار دے

د لښکرو په وتلو اولس ساز شي — يا د دهٔ له فعله بل فعل آغاز شي

دا ناقص چې نيش (۲۵) هميش وهي په کار کښې — ګوره څهٔ شي د لښکر په کاروبار کښې

يوسفزيه خو د ننګ د ناموس نهٔ دي — څوک چې نهٔ کا د هغه سرې په خلهٔ دي

کهٔ په خلهٔ د ميان نور نهٔ کا لښکرې — سکه په سر ئې د لښکرو خاورې سرې

فصل

هغه وخت چې پير روښان فساد بنياد کړ — پښتنو ورسره تينګ کار د فساد کړ

پښتانهٔ په هغه دور پير پرست وو — څوک مريد د شاه عيسیٰ څوک د سرمست وو

د روښان بخره ورکزيه افريدي شول — هغه خوښ په رهزنی په عنيدي شول

د قاسم په بخره وارهٔ غوريه خيل وو — ښنګر پير (۲۶) وته د بنو شيتک ايل وو (۱۲۶)

ختک وارهٔ بوبکري پير منصوري وو — له بدعته له فساده په دوري وو

په مذهب کښې درست ختک سني مذهب دي — اما پير ورته له جهله لکه رب دې

کهٔ په دا سبب کافر وي ګوندې وينه — ګنه وارهٔ په مذهب کښې سني دينه

يوسفزيه همه وارهٔ عيسائي وو (۲۷) — ملکانو سره ګډ په سوائي وو

قاسمي شاه عيسائي سره په جنګ وو — روښاني پير منصوري سره دا رنګ وو

درويزه له يوهٔ لوريه راپيدا شهٔ — په لږ علم په دا ملک کښې لوې ملا شهٔ

چې ئې حال د دې عالم مشاهده کړ — خپل کتاب ئې په کاغذ مسوده کړ

د روښان خيراليان ئې وهٔ ليدلي — هغه هم مجهول بيان وهٔ ناپسندلي

دهٔ چې خوشې ميدان ييامونده سخن ګوئ شهٔ — په وئيل کښې چې ئې زړهٔ وهٔ هسې توئ شهٔ

هغه وخت په پښتنو کښې علم نهٔ وهٔ — درويزه لر مجتهد ورته لا ښهٔ وهٔ

په مذهب سني مذهب وهٔ خارجي شهٔ — د يزيد په ستائلش کښې مارجي شهٔ

ملنګانو به يزيد ته کړې شکنځلې — درويزه به د يزيد ډوزې بللې

خو د نفس و د هوا په کار ئې مخ شهٔ — ملنګان چې ورکيدل په دهٔ به سخ شهٔ

ملنګان ئې وارهٔ ويستل له سواته — دوم ئې وواههٔ له کشفه و کراماته

په دا فن ئې د درست سوات عالم مطيع کړ — و عالم وته ئې خپل کتاب بديع کړ

هيڅ ئې نهٔ کاته دې بدو و فساد ته — نقش ئې کښيناوهٔ په مکر خپل اولاد ته

درويزه د درويزې اوګوره خوړلې — په دا مکر ئې حلوا سره لړلې

چې ئې توره وينځه هم نهٔ وه د وړاندې — قچې قچې يوسفزي ئې شوې تر لاندې

يوسفزيه په دا کار کښې بدکيشي کا — چې د هر يوهٔ کم ذات سره خويشي کا

په هغه آوان اکبر بادشاه بادشاه وهٔ ... واړه خلق د بادشاه سره گمراه وهٔ
شاه عیسیٰ ته به ئې وړې د زرو بدرې ... وبلوټ (۲۸) لره ورتلې د خلقو صدرې
مریدي ئې په کلاه په شجره ده ... کهٔ پیري مریدي دا ده مسخره ده
درویشان مرید به وران شهٔ په یقین کښې ... سل فتنې به ئې پیدا کړلې په دین کښې
درویزه د ناکشیسنو دین برباد کړو ... خارجي ئې یوسفزیه ځاۍ په ځاۍ کړو
عام عالم قرآن حدیث په سترګو وینې ... لا په نورو کوڅو کرځي خاوري پینې
عام وګړې په معنیٰ لکه دواب دې ... په دوابو کښې د ګلو په حساب دې
چې یوه ګله روانه شي د وړاندې ... هغه نوري ګلې تلهٔ وریسې کاندې
حقیقت د هر ابله د نادان نهٔ دې ... چې د خداۍ باندې پرزو دې د هغهٔ دې
څوک په پیر او په مرشد څهٔ لره ویاړي ... خپل مراد دې همګي له علمه غواړي
شکر دا چې په دا وقت عالمان ډیر دي ... مدعي شیخان کهٔ هم تر شماره تیر دي
خداۍ دې ما له مدعي شیخانو ژغوري ... تل دې ما دې عالمان د سترګو توري
هر عالم چې رباني دې تري ځاریږم ... نفساني وته غلیم غوندې بنکاریږم
چې په علم عمل جوړ دې رباني دې ... بې عمله علم واړه شیطاني دې
نیم ملا بلا د دین او د ایمان دې ... نیم طبیب خطره د تن دې هم د ځان دې
مدعي ملا کهٔ ډیر علم حاصل کا ... دې چې علم په دنیا پلوري باطل کا
چې په زړهٔ کښې ئې ذره د دنیا عشق دې ... د درویش درویشي نشته واړه فسق دې
یوسفزیه ئې ساړهٔ کړهٔ له سیده ... ملنګان ئې وشړل واړه له ضده

مؤلف د کتاب وائي اخون درویزه ډیر بزرګ مرید د پیر شیخ علي قدس الله سره العزیز وهٔ. په هغه آوان چې دې په پښتنو کښې وهٔ علم کم وهٔ. دهٔ بنه رهنمائي دي خلقو ته وکړه. خان علیین مکان چې مبالغه په سوات نامه کښې کړي ده د میان په سبب ده چې دې څهٔ خو په طبیعت کښې تُند وهٔ. په سوات کښې د مباحثهٔ علمي دپاره توله ئې د علماؤ پرې وکړه. په دا سبب ئې په سوات نامه کښې مبالغه کړې ده. اصل د اخون درویزه له پاپین دې. [۲۸۲] پلار نیکهٔ ئې ابتداً یوسفزیو سره سوات ته راغلي وو. کتابونه ئې هم هر قسم په فارسی په پښتو شته. موافق د خپل استعداد. نقل کا چې د دهٔ هسې طبیعت وهٔ چې کهٔ بل له طعامه منع نهٔ کړ دهٔ به تر هسې حده طعام وخوړ چې بدهضمي به ئې وشوه. مهابت خان (۱) چې صوبه دار د کابل وهٔ دهٔ په طعام بللې وهٔ. هغه ځاۍ څوک د دهٔ محرم نهٔ وهٔ چې د دهٔ لاس ئې له طعامه نیولې وې ډیر ئې وخوړ. وقت د ګرمی وهٔ وفات شهٔ. په پښاور کښې هزار خانی (۲) څخه تر باړې پورې ئې ښخ

کړهٔ. زیارت گاه د خاص و عام دے. (۳) اخر چې له سواته پس له دیو مجادلو د خیژولو راکوز شهٔ تمام لښکر د سوات ورسره راغے. مندړو هم لښکر وکړ په پنې پیر دیره شهٔ. سرې ئې تر میان وگرزول. د پنې پیر او د سیکری تر میان کښې ئې جرگه وکړه بهرام چې پرتقصیر او عاق کړے د خان علیین مکان وهٔ د مندړو خواهش وشهٔ چې تر پښو ئې پریباسي. تقصیر ئې معاف کړه و لیکن لوے خان دا کار قبول نهٔ کړ. بهرام په دا کښې څهٔ بې ادبې بې ادائي وکړه. خان علیین مکان ووئ چې دا خوک دے غوږې ئې پکاز نهٔ دي. په مصلې ئې نمونځ نهٔ شي. اخر الامر یوسفزیو دا خوبنه کړه چې پخوني به ورته وکړو چې د مغل فوځ راوځي یو جنگ به ورسره وکړو. په خان گلی کښې ئې سوارهٔ او پلي پټ کړهٔ. یو څو سوارهٔ د نمر ختلهٔ دروازې لره د لنگر کوټ راغلهٔ. میر هزاره نومیدهٔ بخشي د لنگر کوټ وهٔ له فوځه سره ور ووت په بوس ډیر باندې د شهباز گړی تر څنگه ئې جنگ وکړ. میر هزاره ئې د سل و څلویښتو سوررو سره په شهادت ورساوهٔ. راجپوت پکښې مړهٔ شول. مغل ئې کمزوري کړل. نور له پنې پیر او له سیکری راروان شهٔ په شهباز گړه ئې واړول په سبا د مغل فوځ تندي وکړه توپونه ئې هم ورته راویستل راووت. یوسفزیه هم میدان ته راووتل. اما مغل خپل قابو ونهٔ لید څو توپونه ئې پریښول په کوټ ننه ووت. د مغلو کم قوتي و یوسفزیو ته معلومه شوه. لوے خان د یوسفزیو سره په هغه ځائے په سواری کښې مصلحت وکړ چې گوجران د لنگر کوټ د ضلعې په غالي ډیر میشته دي. په جمع سورلني د یوسفزیو د مندړو بویه چې پرې ورشو چې مال ئې تاراج کړو او دوي په قتل ورسوو دا سورلني راجمع شول او پیاده ئې په شهباز گړه پریښول. سورلني په سحر سوارهٔ شول د غالي ډیر د پاسه گوجران له بې شماره ماله سره بدرقه دي مال وو اخر د یوسفزیو فوځ پرې خرگند شهٔ. جنگ ډیر وشهٔ. مال ئې په اسانه نهٔ ورکاوهٔ. خدائ تعالیٰ د لوے خان تر خلې وویستل چې دې ما دلته دیره ده پیاده به راوغواړم په قتل به ئې ورسوم. بنهٔ بنهٔ سوارهٔ د یوسفزیو چې وو هغو ووئ چې څهٔ به پیاده راغواړو مونږ به پرې یو خلې هله وکړو نور هله ئې پرې وکړه. کم و بیش تیرصو گوجران ئې مړهٔ کړل. او بې حسابه غوا او میښې ئې راوستے. پس له دې جنگه د لنگر کوټ قلعه بنده شوه. هره ورځ به سوررو تاخت کاوهٔ اما هیڅوک ورته راوتے نهٔ شول. پس له هغه فدائي خان ملتفت خان (۴) د اصالت خان ځوے د پینځو زرو سوررو سره لنگر کوټ ته ئې راستوهٔ.[۲۸۷] او گنج علي خان (۱) دعلي مردان خان ځوے ئې تغیر کړهٔ. او خان علیین مکان و خان مرحوم اشرف خان ته ئې وکښل چې تهٔ هم د ملتفت خان سره کومکي شه له عمده جمعیت سره خان مرحوم نوښهر ته ورغے. د اتهٔ انهٔ سوه سوررو سره یوسفزیو یو دبله مصلحت وکړ چې راشي. د ملتفت

خان د فوځ خبر واخلو کۀ څوک د دښنو په بدرقه راغلي وي وې وهې. ملتفت خان د فوځ قابو نې ونۀ لید. پستنه وجاروتل. فوځ بندي ئې وکړه. نښانونه ئې وتړل يساول ئې وړاندې کړل نيزې ئې کوزې کړے. د غالي ډير قلعه دار مصري خان نوميدۀ په اصل کوټيانے وۀ گمان ئې وشۀ چې دا لښکر چې د نوښهر د لوريه راغے دا مغل دي مخې له ئې راووت. شپيتۀ سوارۀ کم و بيش ورسره وو چې په قابو و يوسفزيو وته راغے هله وپوهيد چې دا لښکر د يوسفزيو دے. د جاروتو قابو ئې ونۀ لید. يو څو سوارۀ ورځنې خلاص شول چې په کړهي نـنوتل څو له نمسيو سره په ځائے شهيد شول. نور ملتفت خان ورته په قابو وۀ. يوسفزيو قوت ونۀ ښيدو وجاروتل. ملتفت خان چې له دې واقعې خبر شۀ ارمانونه ئې ډير وکړل. گنج علي خان ئې له ماله له امواله سره صحيح سلامت راويوست. يو څو ورځې چې تيرې شوے مغلو سوارې وکړه سينور ئې وسۀ. خان لره پير عبدو څو زره روپۍ څۀ نور سوغات ورستوۀ چې دا لښکر تفرقه کړه هغه مبلغ نوره تحفه ئې واړه پستنه ورکړه هيڅ ئې ځنې وانۀ خستل. خواب ئې ورکړ چې دې تا سابقه احسان راباندې شته چې دې تا په څۀ لوټې شي صرفه به ونۀ کړم. مدت د قلعه بندی ډير وشۀ. وخت د فصل د يوسفزيو ورسيد. لښکر تفرقه شۀ قطعه:

لويه چار د پښتانۀ د لاسه نۀ شي مگر چار ئې اسماني ده کمه کوزه
کۀ هر څو ئې سموم رانۀ سميږي چې کارۀ دي د بدبختو څو وربُوزه
په فساد کښې هيڅ فائده نشته خوشحاله د فساد په سر کښې ښخ دي وابۀ دُروزه
هغه چار چې عاقبت لره ښۀ نۀ وي د هوښيارو په مذهب ده لا يجُوزه
يوسفزيه ننگيالي پښتانۀ نۀ دي د بې ننگو پښتنو له مينځه ووځه
يا د بنو په لور درومه تولـه وکړه تر خوشابه پورې ملک کړه شنه ډډوزه
يا په کُنج گوښه عزلت کښينه طاعت کړه يا مکې لره ځه بس دا درې رموزه

خان عليين مکان هم ارغال وکړۀ ډنگ لره چې خپل غر دے راغے. بادشاه ته ملتفت خان مجرا خپله وکښه چې خوشحال مې له يوسفزيو ويوست. بادشاه بد ومنل چې له يوسفزيو دې ويوست. خپل غرۀ خپل اولس لره دې راوست. دا کوم مصلحت وۀ. اوس بيا ورلره وکښه چې بيا يوسفزيو لره راشي. بيا ملتفت خان وکښۀ دۀ ورته خواب وکړ چې هلک نۀ يم چې کله هورې کله دلې گرځم. (۲) پس له هغه د خپل اولس لښکر ئې په شير خان کوهاټي وکړ ورغے. په گنډيالی ئې واړول. شير خان په گنبت د سينيو د ميشک (۳) په وئيل فريفته شۀ باران کيدۀ په شير خان [۲۸۸] باد وخوزيدۀ. دا عالم لوند خوشت په گل و لائ کښې ورغے. هغه مردم هم راووتل څۀ لږ ډير جنگ وشۀ د هغه جنگ قطعه چې خان عليين مکان

وئيلي وه حقيقت به ترې معلوم شي قطعه:

د بنگښ په توره مات نهٔ يم باور کړه — د گنبت په جنگ مې ماتې اسماني وه
نهٔ بنگښ وهٔ نهٔ ئې توره نهٔ ئې زور وهٔ — د موشکو (۱) د سينو شيطاني وه

دا قطعه په کليات کښې نقل ده. (۲) پس له دې جنگه نور څوترې ته لاړ. فدائي خان تغير شهٔ. (۳) صوبه داري د کابل امير خان د خليل الله خان خوې بيامونده. بهادر شاه چې د اورنگزيب په وخت بادشاهزاده وهٔ. (۴) بادشاه په صلح د پښتنو د کابل و صوبې ته راروان کړ. امير خان ئې ورسره راوست. چې په اټک راغلل اول ئې دې وبالهٔ قول او پنجه حسب الحکم د بادشاه او نښان پروانې د جسونت سنگهه پنجه د دهٔ په طلب ورغلې وه. دهٔ هم نظر په سابقه چې احسان د خليل خان د اصالت خان او د امير خان چې د قيد په وخت ئې ډير پکار شوې وهٔ. (۵) پس له ډيرې مبالغې چې ما په گوښه کښې پريږدئ کهٔ پخوا مې بد کړهٔ دې تاسو سره ئې نهٔ کړم. امير ورته وکښل چې مونږ په صلح د پښتنو راغلي يو کهٔ اول تهٔ ماته راشې نور پښتانهٔ به واړه ماته راشي. دې ما نقش به د صوبه داری کښيني افتخار خان ئې د افضل آباد باغ (۵ ا) ته راستوهٔ. دهٔ هم کام ناکام اختيار ئې د ملازمت وکړ چې له څوترې نه روان شهٔ دا غزل ئې ووايهٔ:

د بې ننگه پښتنو له غمه ما. لونې پرينښوه بيا په لاس کړه کمه ما
دا هم ښهٔ کهٔ په دا کار کښې هومره کار وې — چې کهٔ واخست انتقام له گرمه ما
چې د ننگ گوهر مې مات شهٔ دواړه ستر گې — په ژړا نهٔ کړې يو دم بې نمه ما
هغه دُر مې په لاس نهٔ راځي (۷) بيريه — استاده کړه په ساحل له يمه ما
هغه ملا مې چې په هوډ سره لوې غر وهٔ — په ناکام کړه و مغل ته خمه ما
هم د بخت و ماته شا شوه هم د خلقو — په مغل کړ ځکه مخ له همه ما
کهٔ مې لاس وې په رضا به مې کښې نهٔ ښول — د مغل په لورې دوه قدمه ما
د هغو د خلې کړې خبرې اورم — چې خبره ورته نهٔ کړه سمه ما
ذم د خپلو د پرديو رابښکاره شهٔ — کهٔ هر څو ساتهٔ خپل خان له ذمه ما
په هغه لويو خبرو شرمسار يم — چې هر چا ورته ايستې له فمه ما
سل غندنې پيغورونه رادوځار شول — کهٔ به خان ساتهٔ هميش له ذمه ما
دغه غم مې له هيڅ غم سره سم نهٔ دې — کهٔ ليدلې دي هزار الحمه ما
مگر بخت راسره بيا مدد اغاز کړه — چې فارغ کا د اندوه له سمه ما (۸)
هاتې ځکه په سر لونې تورې خاورې — چې خبر کړ د خوشحال له غمه ما

په پښتور کښې ئې د بهادر شاه ملازمت وکړ. امیر خان په خیبر د وړاندې لاړ وۀ. چې بهادر شاه په غریب خانه ورغے امیر خان هم مخې لره ورته راغے. خان علیین مکان ئې ملازمت وکړ، بغل گیرې ئې ورسره وکړه ډیره مینه او مهرباني ئې وکړه خوشحال شۀ. دوه زره روپۍ ئې د دۀ د خرڅ دپاره ورکړے. هرګاه چې بادشاه خبر شۀ چې خان علیین مکان ملازمت وکړ بهادر شاه او امیر خان ته ئې وکښل چې په هر شان چې شي خوشحال له لاسه مۀ پرېږدئ په هر څو منصب چې راضي کیږي راضي ئې کړئ وې ساتئ. بهادر شاه د سیف خان (۹) امرا په معرفت ورته خواب وکښۀ چې تر هزارې تر دوه هزارې پورې بادشاه تاته منصب مرحمت کړے دے تۀ ئې قبول کره. دۀ ورته ووې چې له بادشاه په ما ستم شوے دے زۀ د دې بادشاه د نوکرۍ خواهش نۀ لرم. کۀ تا خدائ بادشاه کا نوکرې به دې [۲۸۹] به پیرۍ کښې هم اختیار کړم. بیا امیر خان ورته ووې چې راشه تر کابله خو راسره لاړ شه چې د وړاندې پښتنو صلح هم دې تا په مصلحت وشي. دۀ ورته ووې چې دې تا لیدل زما مطلب وۀ وشۀ نور په صلح د پښتنو دې ما غرض نشته ما رخصت کره. له فتح آباده (۱) ئې دے رخصت کړ. یو خوږ ئې چې سکندر خان نومیدۀ په خواهش ئې ورسره کابل ته بوتۀ. په وخت د رخصت ئې یو اس یو سروپا یو مرصع کمر خنجر دوه زره روپۍ بهادر شاه ورکړے. یو اس یو سروپا جسونت سنگهه راجا ورکړ. یو سروپا دوه زره روپۍ امیر خان ورکړے. یو سروپا رام سنگهه راجا ورکړ. نور راغے و سرائ ته د قبیلې سره یو ځائے شۀ. یو مرصع کمر خنجر یو اس ئې از راه مهرباني مؤلف د کتاب لره ورکړ. نور ئې په واړو خوردریزه ؤ قسمت کړۀ. د خان علیین مکان وضع فقیرانه وه. د دنیا مال ئې په کور کښې نۀ ساتۀ. یو دوه اسه یو دوه بازه جامه خوراک ضرورې تر دا زیات تکلیف ئې نۀ وۀ. لکه یو ځائے ئې فرمائیلي دي:

په جهان کښې خو دا دوه دم لرم   بناسته پرے نصرت قدم لرم

بناسته پرے باز وۀ او نصرت قدم ئې اس وۀ. نور له سرایه ورغے د نظامپور ځائے ئې خوښ کړ. هغه ځائے ئې حویلي سازه کره. یو څو خدمتګار ورسره. پس له هغه محال د ترې او بولاق چې امیر خان وعده کړې وه چې خان علیین مکان لره به ئې ورکړم. په هغه آوان محال مذکور د سید احمد چې د شهامت خان وړور وۀ د بنګښ فوځدار د هغۀ په جاګیر کښې وۀ. خان جنت مکان اشرف خان چې والد د مؤلف وۀ او مشر فرزند د خان علیین مکان د خټک په سردارۍ مقرر وۀ. دۀ لره ئې ورکړ. د سید احمد تهانه چې د انګو په تاپې کښې وه شاید په عمل ورکول کښې اهمال وۀ. د مهمندیو تاخت پرې وشۀ. څوک ئې مړۀ کړل څوک خلاص شول. اسونه وسله ئې راوړه. خان علیین مکان د څوترې د بولاق جرګه بنادي

پور (۲) تـه وبـلـلـه. واړه کـدخـدايـان راغـلـهٔ. دے له نظامپوره و بنادي پور ته ورغے . زغرې بـر گستـوانـونـه تـر اتيـاؤ زغـرو جيبو دا هومره بر گستوانونه خاصه د بناتو وو چې خان جنت مکـان پـه نـظـامپور کښې د بنگښو د جنگونو دپاره ساتلي وو پس له جنگه د گنبت څو څله سپاه عالم ورغے . په بنگښو ئې تاخت وکړ مرهٔ به ئې کړهٔ بيا به راتلهٔ. هغه اسباب ئې د لارې د کفـايـت دپـاره پـه نـظـامپور کښې ساتلے وهٔ. خان عليين مکان هغه واړه اسباب د ترې بولاق کـدخـدايـانـو لـره ورکړ . له نظامپوره د څو فرزندانو سره محال ترې بولاق لره لاړ شهٔ. اما بې صـلاح د خـان جنت مکان. په دا کښې د دواړو خانانو آزردگي سره وشوه. خان عليين مکان چې محال ترې بولاق لره ورغے . په يوتړ (۳) باندې ئې څائے ونيو . خاربندي ئې وکړه لکه دا رباعي د يوتړ د هوا په باب ئې وئيلې ده. رباعي:

سـاقـي راپـاسـه د يـوتړ هـوا ده دا رضـا نـې لا تـر جـوزا ده

څو لا يو گـل شتـه پـه بـاغ وراغ کښې ايـاغ رانـوشـے دي مـا رضـا ده (۱۳)

خـان جنت مکان د لبنکره سره ورغے لاچې ئې ونيوه. د بنگښو سره ميرخي وه. په اول راتلهٔ د اميـر خـان او بهـادر شـاه[۲۹۰] شيـر خـان لـه کوهاټه راووت. حضور ته د بادشاه لاړ شهٔ. لبنکـر د تـمـام ختـټک تـرې او بولاق د خان عليين مکان سره د خورمو په تخت راغے او د سـرائ او د درملـک د ختټک د لبنکر سردار خان جنت مکان مؤلف د کتاب مقرر کړهٔ. زهٔ ورغـلـم په بنادي خيلو (۱) کښيـنـاستـم دواړه طرفه مې لبنکر اول د بنادي خيلو په کليو تعين کـړ . پـه اول يـورش ئـې درې کـوټه مسمار کړل. مردان اکثر قتل شول وړوکي ارتيني بندې شـوے خو چې پسمانده وو د بنادي خيلو د ډوډې (۲) پـه قـلـعه ورننه وتل. چې هغه قلعه ډير سخت څائے وهٔ. د کوهاټ د ملک ميريو (۳) کومک هم بورا غلام چې غلام صاحب اعتبار د شيـر خـان وهٔ سـردار حاجي عمرا عنايت وغيره شل ديرش سوارهٔ ئې ملک ميري په دا قلعه کښې وو. دوه طرفه د ختټکو لبنکر ورته واړول. قلعه ئې په تنگ ورسوله. امان ئې وغوښت عـنـايـت مـلـک ميـري ئـې د ختټک لبنکر ته راستوهٔ چې په امن مو کانې. په دا ميان کښې د ختـټکـو د لبنـکـر څهٔ سوارهٔ پلي چې قلعې ته نژدې شول د قلعه عالمو د ټوپکو گزارونه پرې وکـړهٔ. د ختټکو عالم پرې يورش وکړ. په دا يورش کښې عنايت چې په امن راغلے وهٔ دے هم چـا مـړ کـړ . نـور خـلـق و قلعه وته واؤښتهٔ قتل عام وشهٔ. په قلعه سل شپيتهٔ کسه په تيغ ومړل. باقي څهٔ پاتو شول. بند اولجې نهايت ډيرې وشوے . هر چې له مرگه پاتو شول بنځې او زن او کـودکـان امـان ورکـړے شهٔ. بندي واړه آزاد شول. د دې فتحې قصيده چې خان عليين مکان وئيلې ده دا ده. قصيده:

خـو وانـخـلـي لـه غليمـه انتقـام — مـرد نـهٔ خـوب کـا نهٔ خندا (۴) کـا نهٔ ارام

چې د ننګ او د ناموس اندوه ئې نهٔ وي — د هغه سـري بـه نـهٔ وي احتـرام

دا قصیده په کلیات کښې تمامه موجوده ده. لښکرې ګکهړ چې د بنګښو فوځدار وهٔ ملک میرو په زور ضرب سره له کوهاټه رایستلې ورچنې میشته وهٔ. بیا هغه ځائې هم استوګه محال وه. په ګنبت د خټک په مزکه ورغې ډیره شهٔ. خان جنت مکان مؤلف ته حکم وکړ چې د نیلاب په لار ئې په خیر آباد داخل کړه. په موجب د امر مې سرې ورستول. د بنادې پور په لار مې په خیر آباد داخل کړ دا کال هم دا فتحه د بنګښن په لور وشوه. بیا خان علیین مکان لښکر وکړو د لاچې قلعه چې د خان جنت مکان محصلان پکښې وو محاصره ئې کړه. خان جنت مکان مؤلف ته حکم وکړ چې د لښکر سره دې ورشې. یا دې محصلان راخلاص کا یا دې خان علیین مکان سره یو صلح صلاح وکا چې زهٔ په بنادې پور ورغلم محصورانو امان غوښتې وهٔ رااوتل. خان علیین مکان قلعه د لاچې مسمار کړه. بیا خان جنت مکان حکم و فوځ ته وکړ چې کلې د تودې چینې تاخت کړئ. تاج خان وغیره شپږ اووهٔ کسه نور کلې ئې تاخت کړهٔ. بیا ئې تانه د لاچې قائمه کړه. اکثر عالم د ترې بولاق خان جنت مکان ته رجوع شهٔ. د محال ترې او بولاق عالم وپوهید چې په دا اتفاق کښې د پلار د خوې مونږه لتاړیږو خان علیین مکان ته واړه په طریق د معرکې په یوځ جمع شو چې تهٔ ئې پلار هغه خوې. تر میان مونږ خرابیږو زمونږ څهٔ کار. تهٔ بیا ورځه نظامپور ته پلار خوې هر چې سره پوهیږئ هورې کانئ. خان علیین مکان له یوټه بیا نظامپور ته راغې. خان جنت مکان چې لازم شفقت پدرې او پسرې دې د خان علیین مکان دلاسه او دلجوئې وکړه. خان علیین مکان دا رباعې په نظامپور کښې ووایه. [۲۹۱] رباعي:

مغل بې قدره پښتون بې ننګه — توبه له تُورې توبه له جنګه

تسبیح په لاس کښې په نظامپور کښې — ناست په مسجد کښې جمدهر تر څنګه

بیا د کوهاټ د ملک میریو او د ترین خان فوځدار سره مخالفت پیدا شهٔ. ترین خان ئې په تنګ ورساوهٔ. امیر خان وکښل خان جنت نښان ته چې تهٔ په کومک د ترین خان ورشه. خان جنت مکان چې په شګې ورغې چې له نظامپوره دوه کروهه مفاصله لرې (۱) زهٔ ئې و خان علیین مکان ورستولم چې کهٔ حکم وشي زهٔ د خان علیین مکان په ملازمت ورشم. خان علیین مکان په سبب د آزردګې لیدل د خان جنت نښان قبول نهٔ کړ. وې فرمائیل هرګاه چې له دې مهمه راوجاروځې بیا دې هالهٔ ما وویني. خان جنت مکان هم په فرموده د خان علیین مکان په کناره تیر شهٔ. بنادې پور ته. زهٔ بیا ورغلم د خان علیین مکان لیدو ته. د شال څیره ئې

راوغوښته از روئے مهرباني ئې په خپل لاس دې ما په سر وتړله او راته ئې وفرمائيل چې پلار دې يعنې خان جنت مکان ته ما سرداري نۀ ده ورکړے په خپل اختيار سردار شوے دے. تاته سرداري ما درکړه. تسليمات مې په ځائے راوړل چې له خان عليين مکان رخصت شوم ووتم. دستار مې له سره کوز کړ په بغل کښې مې کښيښوۀ. د نيلاب په غاښې چې خان جنت مکان پسې ورسيدلم دے د غاښې په سر ناست وۀ تماشه ئې د ملک کړه چې زۀ ئې وليدلم تبسم ئې وفرمايۀ چې خان دې وليد. دستار مې له بغله وکښۀ هر چې خان عليين مکان فرمائيلي وو په عرض مې ورسول. خوشحال شۀ. وې فرمائيل چې دا دستار تبرک دے کښې ئې ږدئ. نور خان جنت نښان له ډيره لښکره سره په ګنبت ورغے. بعضو بنګښو افريديو ورکزيو چې مغلي وو په طريق د معرکې خان جنت مکان ته راغلل د شريف په باغ کښې ئې ووئيل چې تاسو خپله مورچه پريږدئ په ډيره ورشئ ما سره پريږدئ. ملک ميري په بالاحصار کښې له خپلو سورو سره قلعه بند وۀ. اما د ترين خان مرې ئې هميش کول هيڅ پروادار نۀ وۀ. خان جنت نشان چې وروورسيد په خپل فوخ ئې حکم وکړ چې سور پلي مهله ئې ورکړه. باړونه ملک ميريو پرې پريښول جمعيت د خان جنت نښان نور تر لاندې ووت. مغل ئې لر کړل مورچه ئې د ديو ونيوه يو مړے ئې په سبا له ملک ميريو نه وکړ. نور عاجزي ئې راوړه نعره ئې وکړه چې يو تاسې خټک بد مۀ کاڼئ نور مغل پښتون واړه پريږدئ. اخر الامر منت عاجزي ئې ډيره وکړه اګر چې دښمني زمونږه له قديمه وه. خان جنت مکان خپلي لويې ته وکتل نتواتې ئې قبوله کړه. لعل بيګ چې تره د شير خان وۀ په ننواتې راغے. ملک مينا حسن خيل د مورچې نه ورسره شۀ راغلل. د شريف په باغ باندې د خان جنت نښان ډيره وه. لعل بيګ او ملک مينا راغلل. لعل بيګ لاس په نامه خان جنت نښان ته ودريد وې ژړل چې تن ورځ زمونږ د ګټې ده کۀ مو قتلوئ کۀ مو ساتئ. اګر چې خان جنت نښان په خپل خلوت کښې ووې چې بنګښ مو قديم غليم دے او د امير خان دل آزردګي به هم په دا کښې پيدا شي. او کۀ قتل ئې [۲۹۲] کړم خپله دښمني به مو تر سره شي او امير خان به رضامند شي. اما خپلي لويې ته ئې وکتل او نظر ئې په خپل نيک نيت وکړ. خپل غرض ئې ترک کړ او آزردګي د امير خان ئې اختيار کړه. بنګښ ته ئې امن ورکړ. په شپه شپه ئې لعل بيګ رخصت کړ. لعل بيګ په عرض ورسول چې عالم مو د ستر دے کۀ په شپه مو وباسئ ستر به مو په ځائے پاتو شي. خان جنت نښان ورته ووې چې تۀ ورځه خان جوړ کړه په شپه مو وباسم. په سبا خان جنت نښان کوچ وکړ ورغے په خپلو مورچو باندې ورته ډيره شۀ. هر چې باربردار ئې خپل وو او هر چې په لښکر کښې باربردار وو او د الوس سور وۀ همه ئې پلي کړۀ. د ملک ميريو

پرے پرې نهٔ ایښې. د مال و متاع سره رواخست. سلاح خانه د شیر خان ډیره پاتو شوه همه ئې ویشه او په خپل لښکر ئې حکم وکړ چې مغل او پښتون کهٔ درنژدې شي مهٔ ئې پرېږدئ وولئ ئې خان پرې مر کړئ. اما چې ملک میریو ته آزار ونهٔ رسي. په وخت د وتو طبیعت مغل او پښتنو پرې وازمایهٔ لیکن بعضې مهمندي مفسدان وو چې په سبب د طاهر د مرګ ما د دوې تنبیه کړې وه. (۱) څو خلنه له خوړې تښې بیا راغلي وو هغو به په دیو نورو مهمندیو کښې دم جنبانی کولے. چې بهرام به تابیا د لښکر کوله دیو نورو ته به ئې وئیل چې بهرام ډیر زور پیدا کړ. دا معامله ګورئ چرته سره راشي. تاسو ته هم لازم دي چې بهرام سره یو پټ دارمدار کانئ. هغه هم شاید چې د بهرام سره یو مخفي څهٔ سوال خواب کړے وهٔ. زهٔ چې له سپین خاک په خلوزی (۲) راغلم چې سرائ وته مې کوچ کاوهٔ د مهمندیو ملکان د رخصت دپاره راغلل. ما ورته ووې تر سرایه راسره درومئ. مطلب دې ما دا وهٔ چې د مهمندیو کډې هم په شګی په کهې (۳) دې بویه چې تر سرایه هجوم د لښکر راسره وې چې هر څوک ئې وینې. دوې له ما وجاروتل هغه بدبخت حکیمې د مرزا خوې ورته ووې چې دے دې تاسو په پټو جرګو خبر شوے دے چې سرائ ته مو وروانئ. (۴) واړه به تاسو یا مړهٔ یا قید کا. د هغو زړهٔ ته ئې وسواس پریوست. دې ما په خاطر هیڅ بدي نهٔ وه. زهٔ د دیو له وسواسه بې خبره راروان شوم چې په نوښهر راغلم دوې هم راپسې راتلل. وخت د ګرمی وهٔ زهٔ په بیړی کښې کښیناستم په سیند کښې راروان شوم. هغه بدبخت حکیمې به دم په دم دوې ته ژړل مکر به ئې کاوهٔ د دیو پښو ته به ئې ګیتې اچولې ورته به ئې وئیل چې تیار مرګ دے مهٔ درومئ. هغو ورته ووې چې سکه څهٔ کړو بویه دهٔ ورته ووې چې دا ګړی بویه چې یو مقصود په مخکښې ونیسو. د قلنګ د بابه له خوړې به تمام مهمندي و زیړې ته ولیږدوؤ. دے به منت بار شي جرګه به راپسې راستوې بویه د دې حال له تهلکې نه خلاص شو. بل به په قول په عهد ورته ورشو عزت حرمت به حاصل کړو. سړے د سړې شیطان دے. د هغو په خاطر هم دا بنهٔ ورسیدهٔ ملک سلیم او شاه مراد څینے ئې هم په دا مصلحت مخفي وپوښتیدل. هغو هم دا صلاح وکړه. مونږ راغلو سرائ ته، دوې له نوښهره د سونیالې په لار وتښتل چې په خوړې ورغلل نوره ټپه د مهمندیو له حاله هیڅ خبر نهٔ وه چې په مهمندیو تیښته ګډه شوه. هر چې مفسد وو پورته د افریدیو لور ته وتښتل. هر چې د دې لورې دولت خواه وو [۲۹۳] د هغو کډې په دا لورې راروانې شوے. په څلورمه ورځ له خوړې سړې راغلل زهٔ ئې خبر کړم چې دا هسې ملکان له نوښهره وتښتل په خوړې ئې تفرقه ګډه کړه. ما ملک شمشیر پسې واستوهٔ چې ورشه دلاسه ئې کړه. دغه عالم او ملک شمشیر چې خوړې ته ورغے. هغه بدبخت

حکیم چې د سونیالۍ په غابنې کوز شوے دے نور خوړې ته هم ور نۀ رغے. لاړ چا چو (۱) بهرام ته. ورته ئې ووئیل چې په خوړې مې تفرقه گډه کړه هر چې صورت حال د خپل شیطنت وۀ ورته ئې اظهار کړ. اوس خوے د افریدي د لښکره سره راسره کړه هر چې دې تا هوا خواه دي هغه به خپله راځي. هر چې دې تا هوا خواه نۀ وي هغه په زور ولیږدوه. بهرام خوے د افریدیو لښکر ورسره خوړې ته ئې راستوۀ. ما د دیو په لوري سکندر خان هم ورستاوۀ. په دلاسه د مهمندیو سکندر خان چې خوړې ته ورغے په خوړه لښکر د افریدیو وخوت. د افریدیو لښکر په سکندر خان پسې تلاش وکړ اما دے د گنبتي (۲) په غابنې سونیالۍ ته راپریوت. ما لره ئې سور راستوۀ چې حال دا دے زۀ هم بلا معطله مهراجي لره ورغلم چې زۀ په مهراجي داخل شوم جاسوس خبر راوړ چې د غلیم لښکر د میر کلان په لارې د لښکر میلې ته راغے. په امید د سلیم د مددگارۍ. سبا مې فوځ ورستوۀ د سونیالۍ سلیم ته مې هم چشم نمائي وکړه چې دا لښکر هم دې تا په امید راغلے دے. یا ورد ومه هغه ورسره مات کړه. یا به د تا کلي زۀ ووهم. د تمام ځیني لښکر مې ورسره کړ نور ځیني په اخلاص کښې درست وو. د غلیم لښکر چې دا لښکر ولید چې رابانده راغے تاب ئې رانۀ وړ له ورایه ئې شکست وخوړ. گاړو (۳) وته کوز شۀ. د خیسري (۴) په لارې زۀ ورغلم د سلیم په کلي مې دیره شوه. سبا په تیارۀ نمانځۀ وخت مې تاخت وکړ په سونیالۍ ورکوز شوم. د دیو پیاده خوک گنبتي (۵) ته راغلي وو زمونږ پیاده ۋ ولیدل. په هول د دوي و لښکر ته ورغلل اما رسد ورپسې ونۀ شۀ. خنه په تیښته لاړل. شپه مې په گاړو وکړه وخت د ختکیو وۀ د گنبتي د امیرو هومره ختکي شوي وو چې دا دوه درې ورځې د غلیم (۶) لښکر بې صرفې وخوړل تمام نۀ وو. زمونږ لښکر هم بې صرفې وخوړل هیڅ کمے ئې نۀ وۀ. سبا مې کوچ وکړ په کمر میله ورغلم د غلیم لښکر د افریدیو په سروبې ورغے. د دوي مطلب دا وۀ چې کۀ په میدان ئې بیامومو و غرۀ ته جنګ راوړي. اما زمونږ ضرورت وۀ زمونږ دا مطلب وۀ چې کۀ په میدان ئې بیا مومو چې کله منارې وشي مونږ به پخپله جاروتو و نظامپور ته د دوي از راه احمقي بیا جرګه راستوله زمونږ عذر ئې پخپله وکړ. قول سوګند ئې وکړ چې دا ځله هم تۀ زمونږ د تقصیره تیر شه نور به دا هسې نۀ کړو ګمان ئې دا وۀ چې دا مونږ بازي ورکوو مونږ هم عذر غوښت. په هغه قول عهد د دوي و نظامپور ته مې دیره راوړه. شپه مو په نظامپور شوه. اما ګوش بر آواز د دوي د مفسدانو ناست وو. د خلوزیو نه خبر راغے هغه سوارۀ د بهرام نه تښتې لاړ وو. څونصو پونصو سوارۀ ئې بیا اجنبي جمع کړۀ او دا لښکر چې پرولے وۀ د افریدیو دا هم ورغے اراده [۲۹۴] د خلوزیو د راتلو لرې په خاطر راغلل چې کۀ زۀ بیا

خـوزيو تـه ورشـم دوي بـه بيـا په خپل كور ناست وي. بيا د افريديو په ملک كښې خو زۀ جـنـګ نـۀ كـوم. څـۀ فائده بهتر دا ده چې په مهراجي باندې ډيره كړم كۀ دوي ميدان ته ووتل فـكړ به ئې براصل شي. كۀ نۀ وي خير مونږ به هم په خپل كور ناست وو. يو شل سوارۀ مې په طـريـق د قـراولـي خـلـوزيـو تـه واسـتـوۀ چې د بهرام د لښكر خبر ګيران وي. اخر بهرام كوته انـديـش مـيـدان خالي وليد په وخت د شپې ئې كوچ وكړ خلوزيو ته راغـے. يو پهر شپه پاتو وه چې خبـر پـه مهراجي ما وته راورسيد يو ګړی شپه پاتو وه چې كوچ مې خلوزيو ته وكړ. چې نـمـر وخوت په جبه (۱) د اوريـا خيـلـو ورغـلـو. له جبې نه د شاه كوټ لارې ته ورغلو چې و خـلـوزيـو تـه راځي. د غليم لښكر ښكاره شۀ د شيخ مرزا تر زيارت د شاه كوټ لور وته راتير شۀ. يو ه ناګهانه مقابله سره وشوه. غليم چې زمونږ لښكر وليد روح ئې له كالبوته (۲) والوت. اګـر كـۀ د افـريـديـو تـفـنګچيانو هيڅ تقصير ونۀ كړ يو دوه تنه زمونږ د لوريه په ټوپكو زخمي شـول. اما په يوه حمله د غليم لښكر مات شۀ. په دوه ګروهه ئې شكست لاړ شۀ زمونږ لښكر هـم پـه دوه لـوريـه پسـې تعاقب وكړ سوارۀ اجنبي چې ئې د پښاور جمع كړي وو د پښاور په لـوري راهي شول ورپسې تعاقب وشۀ او هر چې پياده عالم افريدي او اسماعيل خيل اوغيره د بوستان تر درګه پورې قريب تر صلو كسو سوارۀ پياده په قتل ورسيدل. قريب تر پينځو سوؤ كسـو سـوارۀ پيـاده دستـګير شول. په فتح فيروزی و خلوزيو ته راغلم هر چې دستګير نيولي شوي وو هغه مې واړه ازاد كړل. هسې دښمنان نۀ وو چې بيخ و بنياد مې د دوي وكښلے وے. د نفس شوم دپاره په طمع د مال په هغه مزور باندې ټول شوي وو. هر چې ومړل هم هغه تنبيه ئـې ډيـره وه. بهـرام مكار هغه جنګ كښې الفتان او خيزان خلاص شۀ. د بوستان په درګه چې هـغـه ماتې د غليم ورغله ځنې د خان له هيبته په هغه نيستان ننوتل د دوي له هيبته يو خنزير هم لـه نيسـتـانـه ووت. د بهـرام سره همعنان يو خائے تښتيدۀ. د دې جنګ تاريخ چا دا وئيلے دے چـې "خـنـزير پ دؤ لاړ." (۱۱۰۱ ه) په حساب د ابجد پوره حساب ترې خيژي. (۳) په فتح په فيروزی سرائ ته راغلو. بهادر شاه شاهزاده د ملتان صوبه دار وۀ. حقيقت مې د امير خان د مرګ د كابل د صوبې د شورش او د فتح نامه عرضداشت ورته وكيښ. (۴) د درياب په لارې مـې د قاصد جلدرو په لاس روان كړ. د بلوڅو تر حده په درياب كښې بيا په خشكه كښې په شپـږ ورځـې و مـلـتـان تـه ورسيـد. امـا دا عـرضـداشـت بهـادر شاه بجنساً عالمګير بادشاه ته ورسـتـوۀ. د بادشاه حكم بهادر شاه ته راغـے چې د كابل صوبې ته درومه. دې ما د عرضداشت پـه خـواب ئې نښان رالره وكيښ چې مجرا دې وشوه. زۀ هم دا يم راغلم. د اټـک په ګودر كښې ملازمت مې وكړ. هر ګاه چې بهادر شاه په حسن ابدال راغـے زۀ ورغلم د ډنګرو په

سـرائ مـې ملازمت وکړ. ډیره مهرباني ئې وکړه. یوه شپه مې وشوه سروپا او توره ئې عنایت کړه. [۲۹۵] یو اس عزیز خان (۱) له خپله لوریه راکړ نور ئې په اهتمام د پل بندی د خیر آباد وتـه ئـې رارخـصت کـړم. چې په اټـک راغلم د اټـک فوځدار فضل الله خان وۀ. دې ما د هغهٔ سـره صـحبت درسـت نهٔ وۀ حبس وۀ. د بهادر شاه مهرباني چې ئې ولیده ډیر مغموم شهٔ. نور بیړی واړه د پل په کار شوے وے درې بیړی چلیدے یوه کهنه بیړی ئې راوسته راته ئې وونیل چې فلانه بیړی تیاره ده کهٔ تهٔ پورې وخے. ما ورته وونیل چې شرط د احتیاط نهٔ دے چې زهٔ په زړه بیړی کښـې کښیـنـم. اخـر بله نوې بیړی ئې راوسته. په هغې کښې کښیناستم. وخت د منـې وۀ. آب سیند په شدت کښې وۀ. د آب سیند دا دستور دے چې وخت د منې شې سیند پـه کـوزیـدهٔ شـې ډیـره خـطـره وې. پل دواړه لوریه ئې د پل بیړی تر ګودر دپاسه ئې لنګروا اچـولـې وو. قـائم شوې وو. په میان کښې سیند خالي وۀ تمام زور د دریاب د چړې په مینځ د سیـنـد وۀ. چې پـه بیـړی کښیناستو روانه مو کړه چې خپل ملاحان راسره وو چې د اټـک په میـنـځ سیـنـد راغـلو ګه ګه خو کوشش ملاحانو وکړهٔ بیړی ئې په جلالیا (۲) راوسته زورور ټـکـره ئـې وخوړه بیارته لاړه. په دویمې ټکرې چې راغله په یوه دکه کښې ډب ته ننوته. چې مـونـږ ځنې کوز شو بیړی ماته وه. په هزار تهلکه له هغه ځایه لاهو شو تر ګودره کښیه په خیر ووتـه مـونـږ ځنې کوز شو خیر آباد ته راغلو هغه بله بیړی چې ئې پخوا دې ما د سورلی دپار راسـتـولـې وه. او پـه سبب د زوروالي زهٔ نهٔ پکښې کښیناستم څهٔ دې ما باورچې څهٔ دې ما اس څهٔ غلامان څهٔ نور خلق پکښې کښیناستل. چې له اټکه ئې راتیل وهله چې په جلالیا راغله تا پـه تـار شـوه. هـغـه عالم چې پکښې ناست وۀ اکثر ډوب شهٔ. بعضې چې قضا ئې نهٔ وه خلاص شـول. امـا عجب دا چې څوک لیچور چې خوانان ئې خان ګانهٔ هغه واړه ډوب شول یو دې باورچـي بدو نومیدهٔ قریب د اویا د اتیا کالو ئې عمر وۀ او هرګز ئې لامبو نهٔ وه زده هغه په یو چپـه بـانـدې پـه خیـریـت سلامت راووت. هذاالقیاس دوه درې نور هم دې ما هغه یو اس چې عـزیز خان راکړے وۀ دوه اسونه نور ډوب شول. یو رهوار اس سلامت وخوت. بهادر شاه هم راغـے د سیـنـد په غاړه ئې پورې واړول. هادې خان ئې د پل په اهتمام مقرر کړ. زر ئې د پل مـصـالـح دپـاره دې مـا حواله کړهٔ. ما هم بنهٔ اهتمام د پل د مصالح رسولو وکړ. د هادي خان مـجـرا هـم وشـوه. دې مـا مـجـرا هم وشوه. ما لره ئې اضافه د منصب راکړه. په سن د زر سل یـوولـس (۳) تـحـویـل د میـزان پـه پـل راپـورې شهٔ . هغه ورځ چې په پل راپورې ووت زهٔ هم ورغـلـم پـه پـل بـاندې مې سلام وکړ. ډیر آفرین باد ئې ووې. هم د دهٔ په جلب کښې پ ۵ باندې ورسـره راغلم. د پل په هغه سر دوه رکعته نفل ئې وګزارل. د پل په دې سر هم چې

راکوز شهٔ دوه رکعته نفل ئې وګزارل. يو باز دوه شاهين مې ئې تر نظره تير کړل. لس مقامه ئې په خير آباد وکړل. درې خدمتګارې کافرې الله داد خان خويشکي له لنګر کوټ په درګاه د عالمګير بادشاه راستولے وے هغه دوه مريې شوے هغه يوه په محل کښې د عالمګير وه. بهادر شاه چې بادشاه د فرزندانو سره په قيد کړ[۲۹۶] په سبب د بدګمانی چې دې نفاق کا بهاګ نګر (۱) د بادشاه سره ئې څهٔ پټ آمد ورفت وهٔ او ګمان ئې د بهادر شاه د بدراهی د رفيع الشان په مور کاوهٔ. چې خورے وهٔ د بهادر شاه. د رفيع الشان مور ئې اکبر آباد (۲) ته راستولې وه. او د بهادر شاه نه ئې جدا کړې وه. په طريق د قيد په اکبر آباد کښې وه. د هغهٔ په عکس چې بهادر شاه ئې له قيده خلاص کړ. د ملتان صوبه دار ئې کړ رخصت ئې کړ. (۳) دا خدمتګاره د الله داد خان د بابت ئې و بهادر شاه ته ورکړه. امة الحبيب (۴) نوميده. بهادر شاه پرې ډيره مينه کوله بهادر شاه چې په ملتان راغے ورته ئې ووې چې زهٔ اصيله يم پښتنه يم. جلال بونيروال دې ما پلار دے. غلو پته کړے په الله داد ئې خرڅه کړے وم. اما خلاف ئې وئيل دا کافره وه د هغو کره لويه شوې وه. بهادر شاه جلال وغيره قبيله راوبلله واړو لره ئې عمده منصبونه ورکړهٔ. په بښهٔ دولت ئې سرفرازه کړهٔ. په خير آباد کښې د امة الحبيب خورے وشهٔ. د خير آباده ئې کوچ وکړ. دوه مقامه ئې په سرائ وکړهٔ. بيا په نوښهر ورغے. ماته ئې اس راکړ رخصت ئې کړم. پښتانهٔ هم له هره فريقه راغلل ورته رجوع شول. د عزيز خان د بهادر خان د خوې (۵) په معرفت به راتلل رجوع کيدل به. د بهرام نحوست انجام د امير خان په رخت د انرودهـ (۶) راجا چې د بوندې وهٔ څهٔ معرفت ئې ورسره شوے وهٔ هغه خو مړ وهٔ د هغهٔ خورے بدهـ سنګهه (۷) په رکاب د بهادر شاه راغلے وهٔ د هغهٔ په معرفت په جلال آباد ورغے ملازمت ئې د بهادر شاه وکړ. ترې بولاق چې په حالت موت امير خان له ما تغير کړے وهٔ فاخر خان ته ئې ورکړے وهٔ بهادر شاه بيا ماته عنايت کړ. نښان ئې د محال مذکور له جلال آباده ما لره راستوهٔ. بهادر شاه کابل ته لاړ. يو ناکرده کار د بهادر شاه بکاؤل وهٔ محمد حسن نوميدهٔ حريص طامع دائم الخمر. هغه ئې د کابل د صوبې متصدې کړ. کارونه به واړه د دهٔ په معرفت کيدل. دے خود ناواقف کار. دا د هندوستان لښکر ورسره واړه ناواقف. بهرام ته دا هسې لښکر خدائ ورکړ. دے مزور په غرور د محمد حسن جست و جوئ د بنګښ د لارې کاوهٔ. دهٔ ورته ووئيل چې دغه لار به هم زهٔ درته پيدا کړم. دوړ وزير د دامانۀ د خوست تورې خاخې د بنو عالم دا به درته واړه رجوع کړم. يو هسې ملک مې ليدلے دے د بنو چې تير صو کوته لرې او هم آبې دے. سير حاصل او واړه باغات دې. هر ځائے چې دې تاسو ډيره وشي انار او بهې او سيب به دې تاسو د خيمې د پاسه ځانګې. او تر نن ورځې پورې هيڅا پرې عمل

دخـل كـړے نـۀ دے. كـۀ هـغـه ملک دې تا په لاس كښيوځي حاجت نشته چې د هندوستان خـزانـې د كـابـل و صـوبـې ته راځي. د كابل د صوبې خرڅ ته به دا خزانې كفايت وكا. دا ئې هـسـې رنګ پـه اسـمـان وخيـژاوۀ چـې دے ئې درست صاحب مدار كړ. د خوست په لور ئې واستـوۀ. هـغـه نـاديـده پښتانـۀ د دۀ پـه مـكر په فريب څۀ پوهيدل. په طمع د منصبونو د زرو [۲۹۷] واړه ورسره راروان شول. بهادر شاه ته ئې لا ډير اعتبار وشۀ. د بنګښ په لار ئې روان كـړل بيـا ئې د دوړو په لار په سن زر سل او دولس ئې بنو ته ورروست. تر بنو پورې څلور لكه روپـۍ د بهـادر شـاه كـمـې زيـاتې خرڅې شوے. بهادر شاه عالمګير بادشاه ته وكښل چې دا هـسـې مـلـک مـې په لاس كښيوت. بادشاه هم د دۀ په جاګير كښې وركړ. په دا ګرمی كښې ئې عـرض وكـړ چـې محال د تري او بولاق دې د فلانه هم تغير شي. و ما وته دې راكړې شي بهـادر شـاه لـه مانه تغير كړ بهرام ته ئې وركړ. بهادر شاه چې په بنو ورغے تحقيقات ئې وكړل هـغـه لافې چې بهرام كړے وے هيڅ يوه كومه نۀ وه. خرڅ ئې هم ډير وشۀ. هغه پښتانۀ چې ئې ورتـه رجوع كړې وو هغه هم ځنې آزرده شول. د بهرام اعتبار تمام لاړ. ژمے ئې په بنو تير كړ بيـا كـابـل تـه روان شـۀ. پـه وخـت د كـوچ خان زمان لوحاني هم ورسره راغے هاتي او اس او سـروپاۍ ئې وركړ رخصت ئې كړ. عزيز خان هم له بنو له بهادر شاه آزرده شۀ د فقيرى جامې ئـې واغـوستـے د لاچي په لارې پښاور ته راغے. بشن سنګهه راجا هم په بنو كښې مړ شۀ. نقل دے چـې پـه بـنـو كښې يوه ورځ بهرام بشن سنګهه راجا لره ورغے چې د انبير زميندار وۀ. (۱) خپـل اخـلاص ئـې ورتـه بيـانوۀ چې زمونږ د قبيلې قديم الايام دې تاسو سره اخلاص دے. هغۀ ورتـه ووې چې هو بهرامه مونږ دې تاسو قبيلې سره قديم اخلاص دے. اما زۀ اورم چې تۀ هم د هـغـه قبيـلـې بيـخ وكاږے. دۀ ورته ووې زۀ به ولې دا هسې كړم. هغه امير خان وۀ مغلو كړل. بشـن سـنـګهه ورته ووې چې مغل زمونږ د زميندارو دوارو غليم دے. راضي په دا دے چې څو پـه مونږ كښې نفاق وي دوي ته مونږ عاجز وو زمونږ مالونه ملكونه ضبط كا. دا چې له ما سره نـاسـت دې دا واړه دې مـا وورونـه تـرونه قبيلې دي. كۀ بهادر شاه ورته ووائي چې د انبير راج تاسو له بشن سنګهه وځانۍ دوي ته لازم دي چې اخلي (۲) په دا كښې به نور ملک پردے شي عـزت حرمت به لاړ شي. (۳) بهـرام لـه ديـو خبرو د دۀ اګر چې د دۀ شرم نۀ وۀ اما شرمنده شۀ بهـادر شاه چې له بنو كوچ وكړ په سين تنګي (۴) ورغے. تمام الوسات د وزير دوړ د خوست عالم راغے سين تنګے ئې ورته ونيو. بهادر شاه فوخونه د وړاندې كړل. جنګ ئې وكړ رامات ئـې كـړل پـه تمام لښكر د بهادر شاه زلزله شوه. چې دا لښكر به ډوب شي. اخر سرې ء ې تر ميان كړل زر ئې پښتنو ته وركړۀ لار ئې پريښوه. اما تر كابله پورې لوټ اولجې له لښكره

کيدے. چې په خوست ورغے د بهرام کردې ئې په ياد شوے وې بالۀ قيد ئې کړۀ. تر کابله ئې په کجاوه کښې بيوۀ. اسماعيل خان بنګښ هم په هغه آوان د بهرام ګُنده وۀ خنې وتښ. په بده خيلو کښې کښيناست د بنګښ و فوځدار سره ئې فساد اغاز کړ بهرام چې لښکر د بهادر شاه په کابل ورغے له کابله وتښ. د غلجې د بنګښ په لارې و تيرې خوترې وته راورسيد. مصدر فساد شۀ. د بهادر شاه حسب الامرونه متواتر ما لره مشتمل په تيښته د بهرام او د اسماعيل خان او ضبط د محال ترې او د بولاق راورسيدۀ زۀ هم په الغار ورغلم لاچې ته. په مجرد دې ما د رسيدو و لاچې ته [۲۹۸] بهرام لـه تيرې نه وتښ خوترې ته او اسماعيل د نريو اوبو تيراه ته. زۀ پـه ضبط او ربط د محال مذکور مشغول وم چې بهادر شاه له کابله د خيبر پـه لارې لـه جمرود ه و آخور تـه راغـے. ما لره ئې نښان د بادشاهى ګرزبردار په لاس لاچې تـه راستوۀ. مضمون دا چې تـۀ، اشـه کوهاټ ته. مير ابراهيم او فاخر خان د بنګښ فوځدار دواړه مې بنو تـه د بلند خيلو په لار روان کړې دي. تۀ هم ورسره درومه. اصالت ګهکړ چې د بنو عالم او مروت سره اخراج کړے دے د ننکر په قلعه ميشته دے هغه راولئ بيا ئې په بنو داخل کړئ. بندوبست د دۀ قائم کړئ. نور رادرومئ. د اصالت ګهکړ مقدمه دا وه چې محمد حسن بکاول ناکرده کار په عرض د بهادر شاه ورسول چې بنو هسې نۀ پرينښے بويه. تـر بادشاه پورې بدنامې ده. يو هسې زميندار چې دولت مند وې فوځ او مصالح ئې له خپلـه کوره وې د بنو فوځدارې پرې سپارلے بويه. کۀ ئې عمل وکړ فهو المراد کۀ خنې ونۀ شۀ ګوشت خر دندان سګ. بهادر شاه ورته ووې البته کړې بويه. هغه ناکرده کار اصالت خان ګهکړ چې په هغه آوان کښې د پکلى فوځدار وۀ او په هغه وخت پکلى هم د سواتيو د ګبريو پښتنو د لاسه چې د نهو لکو روپيو پرګنه وه د سواتيو د ګبريو د پښتو د لاسه خاک سياه وه. هغه پـه ډير سعې کوشش عمل دخل کړې وه. ودانې ئې هم وکړه چې ګرزبرداران ورغلل د بنو د فوځدارى دپاره ئې په ډير تعجيل طلب کړ. هغه ناکرده کار هم هومره وقوف ونـۀ کـړ. چې پـخوا د دۀ تـر وتـو ئـې پکلى ته يو بل فوځدار ورستولے وے. چې في الجمله بندوبست د پکلى قائم پاتو وے اصالت له خپله لاسه په خپلو انبارونو اورونه ولګول راووت هغه باقې چې څۀ پاتو شۀ هغه عالمو لوټ کړ. پکلى تر نن ورځې پورې چې بيا بل فوځدار ور نـۀ رغـے پـه تـصـرف د سواتيو او د ګبريو شوه چې سن هجرې زر سل درويشت دے. اصالت ګهکړ بنو ته ورغے رضا بې رضا ئې د بنو فوځدارې د دۀ په غاړه کړه. هرچند اصالت خان د مصالح دپاره درخواست وکړ هيڅ ئې ور نۀ کړۀ. يو هاتې ئې په وخت د رخصت ورکړ. بيا اصالت خان ورته په عرض ورسول چې له فلانه سره دې ما اخلاص دے دا محال د ترې او د

بولاق متصل د بنو دے نیکي بدي ئې سره رسي. تاسو له فلانه تغیر کړ و بهرام مو ور کړے دے. زهٔ او بهرام سره مخالف یو کهٔ یو کار په ما پېښ شي دا به دې ما هیڅ پکار نهٔ شي. بهتر دې چې و فلانه ته عنایت شي چې په وخت د کار به دې ما مددگار وي. هغه زمان ئې منظور نهٔ کړ چې بهادر شاه تر دوره تیر شهٔ و کابل ته. په دوړو کښې ئې هم په طریق د تاني سید حسن چې د باري سید وهٔ پرېښې. اخر تمام د بنو شیتکو او مروتو سره د اصالت خان گهکړ په اخراج اتفاق وکړ. لښکر ئې پرې وکړ اصالت خان په قلعه کښې محاصره شهٔ. هغه قلعه هم بهادر شاه سازه کړې وه لا تمامه کړې ئې نهٔ وه. څو ورځې ئې ښهٔ جنگونه وکړهٔ اما په بیگانه ملک کښې او امید ئې هم د استمداد د هیڅ لوریه نهٔ وهٔ. امان ئې وغوښت د بنو د مروت کدخدایان ورسره شول. د عیسیٰ خیلو تر تنگ پورې د معظم نگر په لور ئې د فوځ سره سلامت ورسوهٔ. زهٔ چې ورغلم [۲۹۹] و کوهاټ ته میر ابراهیم او فاخر خان مې ولیدل. پوښتنه مې څنې وکړه چې تاسو څهٔ زر هم راوړي دي چې په دا سفر تر هغه ځایه دا سپاه به خوري یا د ښتنو سره په دارمدار پکار شي. میر ابراهیم راته ووئیل چې د دوؤ کالو طلب دے. په سرکار کښې یو دام و درم ما موندلے نهٔ دے. د خوراکې دپاره د ښتنو سره دارمدار دپاره هومره نهٔ لرو چې بیگاه طعام میسر شي. څهٔ ځائے د ورکړو د رانیوو دے. وپوهیدم چې دا هم خامه اندیښنه ده. عرضداشت مې وکړ په دا مضمون چې رایات عالیات په دولت او اقبال په آخور باندې نزول اجلال لري او زهٔ په مفاصله د څلورو کروهو په کوهاټ راغلے یم. کهٔ امر وشي سعادت اندوز د ملازمت شم له رکاب سعادت په هر خدمت چې مامور شم سعادت دارین به ئې وشمارم. هغه محمد حسن بکاؤل ورته ووې چې دے راشي د مصالح دپاره به محال طلبي وکا. دے له هغه په هورته رخصت کړے بویه. متواتر حسب الامرونه راغلل چې تهٔ له هغه په هورته درومه. میر ابراهیم درسره واخله وپوهیدم چې دا معامله دې ما تر غاړې ده. لکه اصالت گهکړ ئې رسوا کړ ماته هم هغسې جوړوي اما بادشاهانو سره برابري نهٔ شي. بیت:

چو در طاس رخشنده افتاد مور   رهاننده راچاره باید

په دوړو چې هغه سید حسن وهٔ هغهٔ هم بهادر شاه ته وکښل چې کهٔ دا فوځ تر ما پورې راورسي د بنو عالم به ما وته رجوع شي. بهادر شاه یو خېل سور هم د بنو عالم ته استولے وهٔ. زهٔ او میر ابراهیم او فاخر خان د ښنگښ فوځدار سره روان شو چې په درسمندو ورغلو هغه سور چې بهادر شاه و بنو ته استولے وهٔ راغے سختي او شدت ئې د بنو د عالم معلوم کړ. د میر ابراهیم او د فاخر خان وارونه خطا شول. راغلل راته ئې ووې چې حال دا دے ما ورته ووې

چې تر بلند خیلو (۱) پورې هيڅ مۀ وايې چې هورې ورشو بيا به مصلحت کړو. په سن زر سـل اولـس چې په بلند خيلو ورغلو سيد حسن ته مو وکښل د بهادر شاه نښان او گرزبردار چې زموږ سره وو ورته مو ورستول. تا کښلي وو چې فوځ راشي دا عالم به ماته رجوع شي اوس دا يو په بلند خيلو راغلو هر څوک چې تاته رجوع شوي دي راځ ستوه چې موږ در تير کـا. هغـۀ وکښل چې مـاته هيڅوک نۀ دي رجوع شوي. کۀ تاسې ما لره رادرومئ زۀ هم په طريق د محاصرې ناست يم تاسو هم په احتياط رادرومئ. دا حقيقت مې بهادر شاه ته وکښل. اما د بهادر شاه مطلب درست دا وۀ چې خرڅ اخراجات هر چې شي فلانه دې ئې کا خو دې ما فوځ دې تر بنو ورولې. اصالت خان گهکړ دې بيا بنو ته راولي. اما دا ممکن نۀ وو. ډيره دل گرمي ئې راته وکښه چې په هر شان چې شي دا کار کړے بويه. نور مې ورته صريح وکښل چې تا پـه څلور کروهې زۀ ونۀ بللم چې ما به حقيقت درته ونيلے وے اوس بلا مصالح زۀ څۀ رنگ دې تـا فـوځ بنو لره ورولم. پښتانۀ تا بد آموخته کړۀ تۀ پخپله چې بنو لره تلے بهرام دې پيشـوا کـړے وۀ څلور لکه روپۍ دې خرڅ کړے. اوس چې زۀ دې تا فوځ د بنو د ضبط دپاره بيـايم پينځۀ لکه روپۍ بويه. په دا تدبير له ما کار نۀ شي. کۀ ما در وبولے چې په حضور درشم مصلحت سره وکړو چې دې ما له لاسه [۳۰۰] شي صرفه به نۀ کوم. زۀ زميندار يم دا منصب نوکرې چې دې ما ده اووۀ پيړۍ د بادشاه له لوريه په شرط خدمت د خپل اولس د لارې ده، نۀ چې د بنو يا د نورو اولسونو په تاوان ده. اوس کۀ دا خدمت نۀ کړم گناهگار نۀ يم. کۀ دې تا فوځ ته نقصان ورسي گناه دے. يو واقعه نويس د بهادر شاه راسره وۀ محمد رحيم نوميدۀ هغه مو هم په مصلحت روان کړ. عرضداشت ئې دې ما يوړ بهادر شاه له آخوره په اشنغر ډيره وۀ. وپـوهيدم چې کار صورت نۀ نيسي. له بنو هغه خبر ورغے له سيد حسن دا خبر زۀ ئې په ډاگ څـوکـۍ وبللم لښکر مې واړه په بلند خيلو پريښ. په شپږمه ورځ د کربوغې د لاچې د بنادې پـور د سـراځ پـه لارې اشـنـغـر تـه ورغـلـم. ملازمت مې وکړ محمد حسن مې هم وليد. سره کښيناستو مصلحت وشۀ اول هغه ناکرده کار راته ووئيل چې يو زر مۀ غواړه يو لښکر نور هر چې نۀ وائے قبلوم. وپوهيدم چې د دوې حال دا دے ملک گيرې بې د ديو دواړو چارو نشي. نـور مـې ورتـه ووې چې دا دوه زره سوارۀ چې تاسو دې ما سره کړي دي د ديو په طلب کښې څـۀ ورکـانـئ چې د دوې څو ورځې قوت لا يموت وشي. بل حکم راکانئ چې زۀ به د څوترې پـه لارې چـې خپل ملک خپل قوم دے بنو ته دا فوځ ورولم. د بيگانه ملک په لارې بې ډيره لښـکـره بې اخراجات تلل نۀ شي. دا دواړه تاسو څخه نشته. له کوره دې ما توفيق نۀ رسي. دا مصلحت ئې قبول کړ. راته ئې ووئيل چې زۀ به هم سوچ وکړم. په کوهاټ به ورته کښينم. نۀ

د خوتري په لار درومه بنو ته. اس د سرو زرو د سازه سره توره او سروپائ راته عنايت کړۀ. يو خلعت مې واخست هغه نور مې قبول نۀ کړۀ. په عرض مې ورسول چې هر ګاه دا خدمت تر سره شي نور هر چې راکول شي وا به ئې خلم. دا ساعت دا هم رسم دپاره دا يو تبرک دے اخلم. نور رخصت شوم. سرائ ته راغلم څو ورځې پس بهادر شاه هم له اشنغره کوچ وکړ نوښهر ته راغے. زۀ چې له بلند خيلو و اشنغر ته راروان شوم په ښادي پور چې راغلم تجويز مې د ښادي پور د نوي کوټ کړے وۀ. يوه مياشت بهادر شاه په نوښهر تيره کړه هغه کوټ هم د ښادي پور په سن زر سل ديرلس تيار شوے وۀ. بهادر شاه له نوښهره کوچ وکړ د بده بيرې (١) په لار کوهاټ ته روان شۀ.. قرارداد دا هسې وۀ چې زۀ به د ښادي پور په لارې په کوهاټ ملازمت وکړم. وخت د ګرمی وۀ د سيند په لارې په بېړيو کښې روان شوم. اما سيند طغيان کړے وۀ چې په شګی ورتير شوم ځائے په ځائے په غرۀ کښې د ګردابونو شدت وۀ. ډير پښيمان شوم. اما په خيريت و ښادي پور ته ورسيدم. د ښادي پور قلعه تياره وه اما حويلی پکښې نۀ وه. متعلقان هم راسره وو تردد مې د حويلی وکړ ما وې چې څو بهادر شاه په کوهاټ راځي دا حويلی به تياره کړم. متعلقان به پکښې واچوم نور به درومم. کوهاټ ته بهادر شاه راغے په کوهاټ ئې واړول. زۀ څو ورځې د حويلی په کار نور معطل شوم دۀ قريب تر لسو مقامو په کوهاټ راتۀ وکړ دې ما د بللو تردد ئې ډير وکړ پاره بې دماغ هم شۀ. ما هم د ښادي پوره کوچ وکړ د جمو په لارې و کوهاټ ته روان شوم. وخت د پشکال [١٠٣] د سر وۀ. د زيرې دره هم ګرمه وه په شوو چې ورغلو په وخت د شپې د ارام دپاره کوز شو. اما شدت د ګرمی هسې پيښ شۀ چې عالم نژدې هلاکت ته شۀ. صبحدم مو کوچ وکړ الله تعالي په خپل فضل سره اوره پيدا کړه څۀ باران وشۀ هوا ئې موافقه کړه. هغه باران نور چرته نۀ وۀ خو فقط زمونږ په ګرداګرد وشۀ. عنايت الٰهي وۀ کوهاټ ته په ارام ورسيدم. بهادر شاه له کوهاټه يو منزل کوچ کړے وۀ. وړاندې لاړ وۀ. مونږ هم پسې ورغلو. متصل مو د لښکر واړول. په سبا مې ملازمت وکړ ګيله ئې وکړه چې زر رانغلے. ما عرض وکړو چې اوس هم هيڅ لاړ نۀ دې دې ما دا لار څوترې ته لا نزدې ده. په سبا مې مهله د لښکر ورکړه ډير خوښ شۀ دوه درې مقامه ئې په انګو وکړۀ. په عرض مې ورسول چې دا دې ما لښکر د زميندارو دے. د نوکرانو نۀ دے هر کار چې پرې کړے بويه زر دې حکم وشي چې عالم راخخه بې توښې نۀ شي. هغه چې دې ما سره درومي حکم دې وشي چې جدا شي. سبا ئې له انګو کوچ وکړ. په سوارۍ کښې ئې راته وفرمائيل چې زۀ دا زمان درومم زيړان (١) او کرمان (٢) ته. دا اورے به هغه ځائے تيروم. تۀ دا زمان درومه دريسې د لارې بندوبست وکړه. بهرام چې په

ښوتره کښېږ دے یا ئې دستګیر کړه یا ئې اخراج کړه چې له نریو اوبو (۳) ئې رخصت کړم. د نیبن په لارې و خورمه چختو (۴) تـه راغلم. بهرام په مجرد دې ما د خبر د اوریدو له ښوترې وتښتیـد پـه لواغرۀ ننوت. زۀ راغلم په لاچی دیره شوم. بیا راغلم د غوریزو په ټول مې واړول دریسـې د لارې بـندوبست مې وکړ بیا راغلم و بنادې پور ته. د پشکال شپې په دا کشمکش کښـې تیرې شوے. په مني سرائ ته راغلم. متعلقان مې هم له بنادې پوره راوستل په خیر آباد کښـې مې واچول. بهادر شاه چې په زیړان کړمان ورغے تمام اوړے ئې په هغه ځائے د غابنې د سازولو په تردد کړے وۀ لار ده چې په سپین غرۀ کښې له زیړان کړمان و ګندمک ته پریوزي اما هیـڅ هـغـه کـار تر سره نۀ شۀ. اخر د بنو په لور ئې تجویز د فوځ مقرر کړ. د محمد حسن بکـاؤل ورور عـلي رضا چې پیش تریو کونجړے او پاجي نۀ وۀ هغه ئې سردار مقرر کړ. مبارز خان ګهکـړ هـم پـه امیـد وۀ د دانګلي د سلطاني. هغه ئې ورسره تعینات کړ. چې فوځ ئې د خپـلـو مـلازمانو ورسره کړ. دې ما په طلب هم ډیر تاکیدونه حسب الامرونه راغلل ما صریح ورته وکښل چې د بلند خیلو په لار بنو وته کۀ ما مصلحت لیدلے اول ځل به لاړ وم. کۀ موافق دې ما د صلاح فوځ و لاچی ته راشي زۀ به هم ورشم د ښوترې په لار به ئې بنو ته وروړلم او کۀ نـۀ وي نـور بندګان بادشاهي هم ډیر دي. هغو ته دې حکم وشي چې لاړ شي. زۀ بنادې پور ته ورغـلـم چې شاید ګوندې فوځ و لاچی ته راشي. اما هغه د بلند خیلو په لار روان شول. چې تر بـنـنـد خیلـو تیـر شـول وزیـرو ورته لار نیولے وه.. جنګ ئې وکړ رامات ئې کړل. ډیر عالم ورځخه تلف شول. مالونه اسبابونه خیمې ورځخه هر څۀ پاتو شول. بیا و بلند خیلو ته راغلل. هغـه نـاکـرده کـار چې وکړل یو ښو کسه وزیر ئې په قول په قرار راواستول د صلح دپاره مړ ئ[۳۰۲] کـړل. د هـغـه ځـایـه هـم راوتښل په درسمند ورغلل ماته ئې خطونه وکښل چې دا هسـې چـارې وشوے ما ورته وکښل چې اوس رادرومئ لاچی ته چې زۀ درسره شم د ښوترې پـه لاره مـو بوځم. زۀ د بنادې پوره د غوریزیو ټول وته راغلم. یوه ورځ تر ما پخوا د غوریزیو په ټول د جمو د افریدیو ساغریو سره جنګ شوے وۀ. افریدي ئې مات کړل شل دیرش کسه ئـې وژلـي وو. ښو شپې مې په غوریزیو په انتظار د فوځ وکړے اما چې بهادر شاه د دیو ناکرده کارو د کاره خبر شۀ دوي ئې په حضور وبلل. تنبیه ئې د دوې په واقعي وکړه زۀ بیا بنادې پور تـه راغـلـم. بهـادر شـاه خـود د خوست په لارې روان شۀ په دوړ ورغے. هغه ځائے وزیرو هغه عـالمو ورته لار نیولې وه. ناصر خان(۱) چې واقف کار وۀ د دې ملک هغه ورسره وۀ تر میان ئې شۀ. په صلح مصالحه ئې بهادر شاه بنو ته راتیر کړ. هرګاه چې په بنو راغے په بنو ئې معطل ونۀ کړ. د مروتو د لکی په لار په عیسیٰ خیلو ورغے. په سن زر سل ښوارلس د اوانو باغ وته

راغے (۲) لارې د دې لوريه پرې بندې شوے. لښکر ډير په تنگه ورسيد. هره ورځ به بنگي خيلو ساغريو د ځوترې عالمو به تاختونه پرې كول. اوبۀ اس غوايه دواب د لښكر پاتو شول. ماته به هره ورځ حسب الامرونه په طلب راتلل. زۀ په سبب د هغه محمد حسن بكاول چې صحبت مې ورسره مخالف وۀ د ورتلو اراده مې نۀ وه.. اما د ناصر خان سره دې ما د زړۀ اخلاص وۀ. دۀ لره مې يو سور راستولے وۀ چې د دۀ سره وۀ چې كۀ تۀ دې ما مصلحت د بللو وينے تۀ مې وبولے در به شم. گنه د بل چا په بلل درتللونے نۀ يم. هر امرا به چې په لښكر كښې وۀ هر وخت چې به مجرا ته ورغے،بهادر شاه به ورته وئيل چې تۀ په خپل مهر حسب الامر د طلب و فلانه ته وكښه. ناصر خان ته ئې هم يوه ورځ ووئيل دۀ په عرض ورسول چې په پينځۀ ورځې كښې به زۀ فلانه حاضر كړم. بهادر شاه ته دا خبره ډيره عجبه ښكاره شوه چې دا هومره حكمونه ورغلل هغه نۀ راځي. دے به ئې څرنگ په پينځۀ ورځې كښې حاضر كا. ورته ئې وفرمائيل مجرا د دۀ را وړ ئې بله. ناصر خان ماته وكښل چې دا هسې مذكور وشۀ تۀ بويه چې راورسے. زۀ هم چې د بنادې پور خير آباد ته راغلے وم په ډاک څوكى و لاچى ته ورسيدم. تلوه جات بادشاهي چې څۀ په كوهاټ كښې وے له كوهاټه مې راوغوښتے هغه مې د ساغريو د بنگي خيلو په لارې و لښكر ته د بهادر شاه ورسولے. له لاچى مې كوچ وكړ په يوټ مې واړول. د كنې گاو په لارې د ځوترې په فتح پور كښې مې واړول. بهرام له كوړمو سره له ځوترې وتښ. په لواغرۀ ننوت. اكثر ترې د ځوترې راته رجوع شول. لښكر مې په فتح پور پريښ. په نهم د رمضان د ښخلي (۳) په لار د څلويښتو سورو سره و لښكر ته د بهادر شاه روان شوم چې د ښخلي په دره راغلم هسې بولک بولک اسونه د ځوترې عالمو راوستل. هر چې په مخه راغلل هغه مې څنې رانيول. چې د ښخلي په خلۀ راغلم د ځوترې [۳۰۳] عالمو يو كاروان د اوښو د خچرو د لښكر وهلے وۀ كاروانې په ځانے ولاړ وۀ كاروان ئې څنې بيولے وۀ. وخت د نمازپښين وۀ زۀ په تكل د اودس د نمانځۀ وم كاروانيو چې زۀ وليدم داد فرياد ئې وكړ چې زمونږ مال ئې ورواهۀ دا دے بوئ تۀ مونږ گمان دا وكړ چې اوس ئې ورواهۀ مال ئې چندن بيولے وۀ. دې ما سره چې دا سوارۀ وو دوې په پويه پسې اسونه واچول زۀ هم له پالكى كوز شوم په تخت روان اس سور شوم. ما هم پسې پويه واچوله. درې څلور كروهه چې لاړو نابوميه ملک هيڅ نۀ پوهيدو چې چرته ځو. اما اخر په دۀ په منده نمازديگر پسې ورسيدو. تير سو كسه عالم وۀ. اكثر بندوقچي چې مونږ ئې وليدو مال ئې واړه په درو كښې ننويست. ټوپک ئې كښيښول راته كښيناستل. وپوهيدو چې عالم ډير دے زمونږ زور به ور نۀ رسي. بل هډ هم ورسره ماتول نۀ بويه زمونږ سره زيست دے خپل

اولس دې یو څو سوارۀ تري چې راسره وو هغه مې وراندې کړۀ ورته ئې اواز وکړ چې دا فلانه دې راغلے بویه چې دا مال پرېږدئ. دوې هم چې دا دې ما نښان ولید وپوهیدل چې دا سورلي د پښتنو ده. گزارونه لې ونۀ کړل. څۀ مال ئې راته خوشے کړ پرېښې چې ښه تاسو هر څوک یاستئ پښتانۀ یئ دغه مال دې تاسو مخ نور مۀ رانژدې کیږئ. اخر بیا ورنژدې شو بیا مې ورته ږغ وکړ چې دا مونږ یو دا مال راپرېږدئ گنه هډ به مو سره مات شي. دوې وپوهیدل چې په دا نـمـانښام بـه دا هسـې زرۀ ورتوب چا کاوۀ دا هم دوې دي. مناسب دا دې چې مال پرېږدو چرې مو هډ سره مات نۀ شي. اخر مونږ هم مټ پرې وکړ. دوې پاڅیدل غرۀ ته وختل واړه مال ئې راپرېښې. په هغو قچرو په هغو اوښانو مو بار کړو. پهر شپه تېره وه چې لښکر ته د ناصر خان په ډېره راورسیدم. هغه مال مو د څښتنو په حواله کړ. ناصر خان راپاڅید مخې ته راغے. بغلگیري ئې وکړه. په ډېره ئې کښل کړم سره کښیناستو. هغه ساعت ئې عرض دې ما د داخلیدو بهادر شاه ته په دا مضمون وکیښې. دستخط ئې پرې وکړ. چې راتلل د فلانه ډیر ښۀ وشول. سبا یا بل سبا دې ملازمت وکا. تر بله سبا سبا بهتر دے. هرچند زود تر بهتر. سبا مې ملازمت وکړ. ډیره مهرباني ئې وکړه. زۀ چې جریده لښکر نه راغلے وم اسباب مې پاتو شوے وۀ. ډیره مې د ناصر خان کره ونیوه. آب و طعام مې هم د دۀ سره وۀ. محمد حسن بکاول چې خبر شۀ دې ما د راتلو بیا د ناصر خان کره اور پرې ولگید. هغه ورځ د لقوې آزار هم حق تعالیٰ ورپیښ کړ خلۀ ستر گې ئې کږې وږې شوے. پس د څو ورځو ښه شۀ. سرې ئې تر میان کړۀ چې کۀ دے دې ما دیرې ته راشي. اما زۀ نۀ ورتلم. اخر دې ما له کیني ئې بهرام لـه لـواغـره راوبـالـۀ هـغه هم په تنگه رسیدلے وۀ. دې ما لښکر په څوتره ترې چاپیر وۀ ورلره راغے. [۳۰۴] ملازمت ئې د بهادر شاه وکړ نور بهادر شاه زۀ وبللم راته ئې ووئیل چې اوس بـنـدوبست د لارې کړے بـویـه چې په دا لار د څوترې پښاور ته خلق څې راځي. اخر الامر سرې مې ورستول. د بنگي خیلو د ساغریو د کډې خیلو کدخدایان مې راوبلل. خائے په خائے مې تانې پرې مقررې کړے. خپل سرې مې ورسره کښینول. راهدارې مې مقرر کړه. د لښکر گرداگرد مې دوه کروهې څوکي د اولس کښینولے. نور په تمام لښکر امان وشۀ هغه پخوا تر ما چې دواب د لښکر غارت شوے وۀ څۀ مفت بعضې په بونگه چې څښتنو د مال به ورکوله خلاص مې کړل. بهادر شاه ډیر خوشنود شۀ. مبارز خان گکهړ لره ئې سلطاني د دانکلي د اصالت خان له تغیره ورکړه د جال له فوخداری سره اصالت خان خان د بهادر شاه له مخه کناره کړے وۀ په لاهور وۀ. د محمد حسن بکاول په معرفت چې د دانکلي سلطاني ئې و مبارز خان ور کوله دا شرط ئې ورسره کړے وۀ چې فوخداري د بنو قبول کا. هغۀ هم شاید

قبوله کړې وه. دا ئې قرار ورسره کړے وۀ چې زۀ اوس ورشم بندوبست د پوټوهار وکړم څو چې بهادر شاه په باغ دے هر ګاه چې کابل ته کوچ وکا نور به زۀ راشم په بنو کښې به اوسم. اخر بهادر شاه لـه باغه کوچ وفرمايۀ. بهرام نحوست انجام وخت غنيمت وشمارۀ د محمد حسن په معرفت ئې خوږے څوترې ته په فساد ورستوۀ. يو څو کسه د څوترې چې د دۀ د جنبې وو ورسره ئې کړل. چې بهادر شاه کوچ بنو ته وکړ اوس وخت دے چې دا لښکر د فلانه چې دې تاسو په سر پروت دے پائ څوئ. اخر الامر بهادر شاه په عيسيٰ خيلو وارول. د څوترې بعضې ترپو لښکر کښې په مصلحت د عابد خان د کادې بادې په حد وکړه. راغلل مقابل دې ما د لښکر ودريدل. عابد خان په هغه وخت لګه د هغو سره مصلحت کړے وۀ ګريز وکړ نامدار خان ورور د لـجابت خان وغيره دې ما لښکر بنۀ تردد وکړ شکست ئې و ترپو ته ورکړ. پـه مرګ ئې ونـۀ وژلۀ اما ژوندې ئې ډير ونيول. زۀ چې عيسيٰ خيلو کښې خبر شوم څلويښت پنځوس سوارۀ چې راسره وو هغه مې هم شباشب څوترې ته واستول له هغه نه بهادر شاه کوچ وکړ د مروتو په لکی ورغلو. وا مو ړول. په باغ کښې ما و بهادر شاه د باغ د جاګير التماس کړے وۀ د دۀ هـم پـه خاطر کښې وه د هغه خايه سند ئې هم د بخشيانو په مهر و ما راکړ اصالت ګهکړ هم و لاهور ته فرارې شوے وۀ راغلے دلې په لکې د بهادر شاه ملازمت ئې وکړ. د لکې پـه مقام بهادر شاه بروئے ديوان راته وفرمائيل چې تۀ دروم سبا کوچ کړه د بنو قلعه وتـه دې ما تر ورتلو پخوا تجويز د هغې وکړه. کۀ هغه قلعه بنه ګڼې دوه سوه بيلدار به دراستوم مرمت ئې کړه او کۀ هغه خائے دې خوښ نۀ دے بل خائے تجويز کړه. تسليمات مې پـه ځائے راوړۀ. خنې رخصت شوم. د وخته مې کوچ وکړ لکی او بنو (١) سره چې قريب د پينځۀ ويشتو کروهو تفاوت لرې همروزه ورسيدم. په لارې به چې تلم لس کسه غلۀ د مروتو پـه لښکر خوځيدل نـاګهانه پرې وختم ومې نيول. اما پښتانۀ وو بد مې ونۀ غوښتل بيا مې پريښول. پـه قلعه د بنو کښې مې څو ورځې تيرې کړے. د بهادر شاه لښکر تر بنو هغه خوا ديره شـۀ. نـاصر خـان تـه ئې [٣٠٥] ووئيل چې تۀ ورشه د بنو په قلعه کښې د فلانه په ځائے کښينه. دے دې لاړ شي خزانـه چې د بـادشـاهی په کوهاټ کښې راغلې ده لښکر ته دې راوړې. نـاصر خان راغلے تر دۀ پخوا ما کوچ په لور د څوترې کړے وۀ. چې په دمې (١) مالي باندې ورغلم په مابين د بنو د لتمر وخت د بهار وۀ نوروز وۀ. هغه شپه باران شوے وۀ دورې د دريـو مـزريـو پـل بيامونـد شـۀ. لـه پالکی کوز شوم په تخت روان اس سور شوم. خواهش مې د مـزريـو د ښکار له مدته په خاطر کښې وۀ. پل مې پسې واخست. ناګاه درې وارۀ زمرې پيدا شول. په تيښته روان شول. دوه غشي مې پرې ګوزار کړل. دې ما د قراولو د سورو نه ئې يو

سور پریوست. اما په خیر پاتو شهٔ. توپ خانو ته مې حکم وکړ هغه یو په توپک زخمي شهٔ وتښتې. سوارهٔ واړه په هغهٔ پسې لاړل. یو څو سورو ته مې ووې چې تاسو د دې بل مزرې په محافظت اوسئ. زهٔ هم په هغهٔ پسې لاړم په توپک مړ شهٔ. بیا په چستئ چې دے بل وته راجاروتو له هغه سورو غرېدلے وهٔ ډیر جستجو ئې پسې وشهٔ اما پیدا نهٔ شهٔ. نور مو ډیره لتمرو ته راوړه. د لتمرو لاچې ته راغلو. عابد خان چې له څوترې تښنے راکوز شوے وهٔ په تمامه شرمندګی راغے طرفه دا چې زهٔ په سر د مهم دا هومره خرڅ او اخراجات کیږه راته ئې ووې ما سرائ ته رخصت کړه. د خوې وادهٔ مې دے څهٔ زر هم راکړه مهٔ په دا پوهیږه چې دے سر مهم زهٔ ئې څهٔ رنګ پریږدم ترې درومم. مهٔ په دا پوهیږه چې دې ما د لاسه څهٔ تقصیر وشهٔ.

مهٔ په دا پوهیږه چې نن ورځ د دهٔ نه خرڅ غوښتل څهٔ معنيٰ لري. ډیر بې عقله رابنکارهٔ شهٔ.

سرائ ته مې رخصت کړ چې کور ته ورغے ارتینو ئې غاؤ واویلا آغازه کړه چې دا تهٔ چرته راغلے په خان په مونږ دې اور ولګاوهٔ هله وپوهید وار تیر وهٔ. چې سرائ لره ورغلم نور مې اخراج کړ خزانه مې واخسته و بنو ته مې ورسوله د ناصر خان په حواله مې کړه. زهٔ په قلعه کښې پاتو شوم. دهٔ خزانه لښکر ته ورسوله و ما ته ئې وکښل چې تهٔ هومره په دغه قلعه کښې اوسه. ګرزبردار مې بادشاهي ورستوهٔ. مبارز خان ګهکړ چې له جاله ئې راولے په بنو کښې ئې کښینوه نور تهٔ خه. ناصر خان چې و قلعې ته د بنو راغے لک روپۍ ئې د بنو په عالم دې ما په معرفت تحصیل مقرر کړے. دیرش څلویښت زره روپۍ وصولے شوے وے. نور ئې کوچ وکړ تر سین تنګې دوړ ته تیر شهٔ. نهٔ ئې فوځ نهٔ ئې مصالح هیڅ و ماته پرینبول. هغه د تحصیل سوارهٔ چې په بنو کښې وو پس د دهٔ له کوچه هغه هم پسې لاړل. زهٔ هم له بنو راغلم په لتمر کښیناستم ګرزبردار مې بادشاهي له عبدالرحمٰن سره و باغ ته ورستوهٔ چې عمل د باغ په موجب د سند د بهادر شاه و ما راکا. او مبارز رادرومې و بنو ته. اما ګرزبردار او عبدالرحمٰن چې ورغلل مبارز خان نهٔ عمل د باغ ورکاوهٔ نهٔ ئې اختیار د بنو د راتلو کاوهٔ. صریح ئې وکښل چې ما سلطاني د دانکلي په شرط د بنو د فوځداری نهٔ ده قبوله کړے. بنو ته زهٔ درتلونے نهٔ یم. ما هم هغه خطونه بجنساً و بهادر شاه ته واستول. لښکر مې ډیره مسافرې کړې وه. تنګ خرڅې هم پیښه وه. وخت دې دِرَو د زراعت هم رسیدلے وهٔ. راروان شوم.[٣٠٦] تیرې ته راغلو په هغه عالم مې پیشکش مقرر کړ لښکر مې خپل رخصت کړ. یوه میاشت په تیرې تحصیل د بنګښ وم. نور زهٔ هم سرائ ته راروان شوم. په سرائ راغلم خبر راورسید بهادر شاه چې له خوست د شواک په لار و کابل ته کوچ وکړ پښتنو د شواک دره غاښے ورته نیوهٔ. دهٔ فوځ ور وړاندې کړهٔ جنګ ئې سره وکړ. د کمال الدین خوے د دلیر

خان نمسے چې جمال الدین خان نومیدۀ هغه په تورپک پریوت. نور عالم هم ورسره پریوت. هغه ځائے دره سخت ځائے وۀ. هره ورځ جنګونه کیدل. لښکر به د بهادر شاه سرولم (۱) ته پښتنو لور په لور واهۀ. ډیر عالم ډیر لښکر تاراج شۀ. پس له یوې میاشتې په دا حال له هغې درې و غزنې ته راووت. الله یار خان چې د غزنې فوځدار وۀ هغه هم ورلره مخې ته راغے. نور لاړ و غزنې ته. د غزنې زیارتونه ئې وکړل نور و کابل ته راغے. له کابله بیا په زمستان راروان شۀ د خورد کابل واؤره پرې پریوته. ډیر عالم ترې تلف شو. راغے جلال آباد ته باقي ژمے ئې په جلال آباد تیر کړ. ناصر خان چې په هغه آوان فوځداري د پښاور په طریق د اجارې د دۀ په نامه وه له جلال آباده ئې رخصت واخست راغے وپښاور ته. بهرام نحوست انجام هم په دا کشمکش په حال د سګ ورسره وۀ. بهادر شاه د ناصر خان په حواله کړے وۀ. یوه رکیبی طعام به ئې ورکاوۀ. ناصر خان چې پښاور ته راغے په سن زر سل پینځلس (۲) زۀ ئې وبللم. هغه ژمے رنځورې د تږخې د دمې په ما ډیره تیره وه اما ژمے اخر شوے وۀ ورغلم یو څو ورځې مې په ګرد و نواح د پښاور ښکار د باز او د شاهینو ورسره وکړ دې ما شاهینونو د قاز ښۀ ښکار وکړ ډیر خوشنود شۀ. راته ئې ووئیل چې دا موسم دې د اجارې اخر شۀ. باقیات د تحصیل د شرے کیرے چې کوه دامن د مهمندو (۳) د کلیو وۀ پاتو دے. دې ما دیوان به هم درومې. اصالت خان ګهکړ مې ورسره کړے دے کۀ تۀ هم لاړ شے ګوندې مې په لاس څۀ کښیوزي. ما هم خپل لښکر راوغوښت په بډه بیرې ورغلو ډیره مو وکړه د شرے کیرے عالم خنه فراري شۀ بعضو څۀ ورکړۀ. بیا ورغلو په شرے کیرے مو ډیره ونیوه. هغه ځائے دې ما د نس آزار شۀ. د معالجې دپاره ښهر ته د ازاد خان نیایۀ کره راغلم. لښکر مې په شرے کیرے پریښې. پنځلس شپاړس ورځې مې ازار د نس خوړې وځکاوۀ. زۀ چې له شرے کیرے راغلم هغه کادي بادي بدبختانو ځائے خالي ولید وخت ئې بیاموند. په دا قبیله اولس به ګرځیدل بدراهي به ئې کوله ورته به ئې ونیل دا د مغلو کارونه دي کله تمامیږي نن دا کار دے سبا بل کار وي. درومئ د وخته سره اتفاق وکړئ. کور ته تښتئ. فلانه هم پښاور ته لاړ مونږ ئې دلته پریښو. هم دغه چاره عذر کړئ. بعضې عالم چې دولت خواهان وو هغو به ورته وئیل دا کوم مناسب دي چې دا تۀ وائے. دا مقدمه پیښ تر پینځلسو ورځو نه ده. کوم تلوار دے چې مونږ درومو. هر چې یو نیم مفسد وۀ هغو به ورته وې چې اول تۀ روان شه مونږ به درپسې څو دوي له ویرې خان برهنه کولے نۀ شۀ. خو نور ئې تیل وهل. په هغو څو ورځو کښې نوروز وۀ. اجاره د ناصر خان پوره شوه.[۳۰۷] خپل دیوان ئې وبالۀ ما هم خپل لښکر ته رخصت ورکړ کور ته لاړل. زۀ په سبب د هغه ازار ډیر ضعیف شوے وۀ. والده او کوروڼه

مې و ښهر ته راغلي وو ښو ورځې پس الله تعالیٰ صحت را کړ. په پالکۍ کښې کښيناستم همروزه سرائ ته راغلم. چې و سرائ ته راغلم خبر شوم چې د هغو واړو شيطانانو يعنې کادي بادي ښو ښوخبرې په سرائ کښې ګډې کړې وې دې ما د بابه. اما دوې ته مې هيڅ ونۀ وئيل. ما په ګمان د دې چې دوې کم بختو له بهرام ډيرې جفا وليدلې او ما ورسره نيکي وکړه ومې ساتل. کۀ زۀ هيڅ دوې وته نۀ ورکوم دې ما خدمت به په راستی درستی کا. په دا اعتبار مې دوې ته يو مراتب د لويي او پيرزوئينه د دولت هم ورکړه. کۀ دوې به لړه ډيره بې ادائي وکړه هم ما به چشم پوښې پرې کوله چې دا هسې مراتب ته رسول بيا په يو ځل غورزول کار د خردمندانو نۀ دے. يحيیٰ خان ته يو نيم بل ته مې چشم نمائي وکړه اخراج مې کړل. په دا کښې لا وخوښيدل. بيت:

سفله چو جاه آمد و سیم و زرش | سیلی اے خواہد بضرورت سرش
آن نہ شنیدی کہ فلاطون چہ گفت | مور ہمان بہ کہ نہ باشد پرش

نور به ئې هميشه کيږې کينې کړے په خپل وار به ئې مذکور راشي. دا کال بهادر شاه لاړ کابل ته. بيا چې له کابله راروان شۀ په جلال آباد پاتو نۀ شۀ. پښاور ته راغے زۀ هم جمرود لره په سن زر سل شپاړس په ملازمت ورغلم ملازمت مې وکړ. پوښتنه ئې راځنې د سرائ د ګردونواح د ښکار د افضل آباد د باغ د ښڼې ښکار ډيره وکړه. راغلو پښاور ته. شاهزاده رفيع القدر چې په مونږ ډير مهربان وۀ د ناصر خان سره ئې هم مهرباني وه. په مجرد د پښاور د راتلو و ښکار ګاه وته د جبې روان شۀ. ناصر خان ئې هم ورسره بوت. چې په ښکار ګاه ورغے هغه ځائے چې مونږ و ناصر خان سره هغه ښکارونه کړي وو اګر چې ما منع کړے وۀ چې بادشاهزادګانو وته نۀ بويه چې دا دې ما د ښکار خبرې دې تا تر خلې ووځې مونږ و تۀ سره ياران يو هر رنګ چې سره ښکارونه کوو باکت نشته. د دوې سره زمونږ ښکار ګرفتاري ده. اما دے چې په هغه ځايونو ورغے بې اختياره ئې ورته تر خلې ووتل چې په دا ځائے مو هسې قاز حلال کړے دے هسې ښکارونه مو کړي دې. شاهزاده ورته ووې چې اوس هم بويه چې مونږ ننداره وکړو هغه ښکارونه خو دۀ نۀ کړل نورو کړي وو. دے پکښې حيران شۀ اما د خپل قول د تصديق دپاره ئې دې ما نوم واخست. شاهزاده ورته ووئيل اګر چې فلانه دې ما روشناس دے اما کۀ زۀ ورته ووايم رضا ئې وې کۀ ئې نۀ وې. تۀ و دې سره ياران ياستئ. ورته ووايه چې خپل شاهينونه راوغواړې چې مونږ هم ښکار پرې وکړو. ناصر خان چې راغے و کور ته نمازخفتن سره يو ځائے شو. راته ئې ووئيل چې دې ما د ډيرې شرم وساته دې ما تر خلې دا هسې و شاهزاده ته ووتل. بيان ئې د مقدمې راته تمام وکړو ما ورته ووئيل چې بد دې

وکړل. زۀ دې عبث ګرفتار کړم نور مې شپږ شاهینونه چې قاز ګیر وۀ په قازو غورزیدل او الوتل له سرایه مې راوغوښتل.[۳۰۸]ناصر خان لره مې واستول. د شاهزاده سره دې ما میر ښکاران شاهینونه ورسره ښکار ته لاړل. شاهینونه ئې په قازو والوزول. دوې هیڅ په الوزولو نۀ پوهیدل هیڅ ئې ونۀ نیول. اما شاهزاده په زغابنت د شاهینونو ډیر خوش شۀ. ما لره ئې دوه غلامان راستول. چې شاهینونه دې مونږ سره په ښکار راستول تۀ ولې نۀ راځې ما و هغو خواب ورکړ چې په ښکار تلل دې ما د شاهزادګانو سره سعادتمندي ده اما بې د بهادر شاه د امره مبادرت نۀ شم کړے. هغه ورغلل د شاهزاده په عرض ئې ورسول شهزاده چې بهادر شاه لره ورغے په نیمه شپه ئې په عرض ورسول چې فلانه دې ما سره بې له امره په ښکار نۀ درومي کۀ امر وشي چې دے دې ما سره په ښکار لاړ شي. نیمې شپې د څوکی دوه غلامان بهادر شاه ما لره راستول. حکم ئې راورسوۀ چې هر وخت چې شاهزاده ښکار ته درومي تۀ هم ورسره حاضر اوسه. ما ورته ووې بهتر هر وخت چې د دۀ سواري ووځي زۀ به ورته حاضر شم. شاهزاده رفیع القدر ډیر په ښکار مئین وۀ. هره ورځ چې به د دۀ ښکار وۀ زۀ به ورسره روان شوم چې په جبه د ښکار ګاه ورغلو دستور د بادشاهانو د ښکار دے چې دوه خایه عالم متع کا. یو خاصه باره ورته وائي یو عامه باره ورته وائي. په عامه باره کښې عام عالم ولاړ وي په خاصه باره کښې خاص عالم ولاړ وي. دے له څو مصاحبانو سره ښکار کا. یو زۀ یو ناصر خان یو ناظر مبارک خوجه. دې ما شاهینونه دې ما میر ښکاران وو ورسره. نور عالم واړه منع شۀ. یو خائے قاز ناست وۀ د شاهزاده د ښکار بهلونه هم ورسره وو. تر بهلونو پنه به ورته د هندوستان د ښکار دستور دا هسې وي. یو شاهین مې د شهزاده په لاس ورکړ په قازو ئې والوزوۀ. ښنۀ زمین دوز والوت. اما خطا شۀ په عرض مې ورسول چې دې ما کم طالعي ده دا شاهین هم نن خطا پریوت ګنه نور کله کم خطا وۀ. راته ئې ووئیل چې فلانه هیڅ مۀ وایه. تر وهلو ئې بهتر کار وکړ. نور روان شۀ بلې پلې ته. زۀ ئې وپوښتیدم چې څۀ کړي بویه. ما التماس وکړ چې د بادشاهانو په خدمت ښکارونه زۀ اوس امیدوار د تربیت یم. او په خپل روش ښکار ما پخپله ښنۀ زده. وې فرمائیل چې تۀ په خپل روش ښکار کړه مونږ به درپسې یو. نور زۀ روان شوم دوې راپسې روان شول. بهلونه مې وجاریستل. ورانده ئې ډیر قاز ناست وو. زۀ ودریدم دوې هم راسره ودریدل. یو شاهین د شهزاده په لاس بل د ناصر خان په لاس یو دې ما په لاس وۀ له ورایه مې تماغې واخستے قاز مو ورو ښنیل د دوې عقل خیره شۀ چې په دا هومره لرې پله به دا شاهینونه څۀ رنګ درومي. درې واړه مې والوزول. ورته مې ووې څو زۀ طبل ونۀ کړم هومره تاسو طبل مۀ کانئ. چې په قازو ورغلل ما طبل وکړ قاز بلند شول. شاهینونه په وار

وار وروولويدل يو يو قاز ئي جدا جدا راكوز كړ. زۀ او ناصر خان په زغلول د اسو ورغلو كومك مو وكړ قاز مو حلال كړۀ. شاهزاده په خپلو خائے حيران پاتو شۀ چې دا كار ئې هرگز ليدلے نۀ وۀ. بهادر شاه ته هم ورغے تعريف ئې وكړ. تمامې ژمے هره ورځ ښكار وۀ. بهادر شاه هم د دې كار ننداره وكړه شهزاده به ډيره مهرباني [۳۰۹] كړه. اكثر په طعام به ئې په ښكار كور يادولم. دې ما مير ښكارانو ته به ئې په هر ښكار يو مهر دوه مهره انعام وركول. ما لره ئې هم وار په وار متعدد دري ځلور اسه عراقيان تركيان يوه دوه سروپايه راكړۀ. محال ترې او بولاق چې فاخر خان د ښگښ فوځدار به ئې هميشه د قابل ملک ميري په معرفت په تلاش د اخستو وۀ بهادر شاه له ما تغير كړ د فاخر خان په جاگير كښې ئې وركړ. قابل ملک ميري چې ما ځو ځو نيكي ورسره كړے وے اخر دے بچۀ بدهنر وۀ خو چې لاس ئې ورسيد دا بد ئې وكړۀ. نور د دې بدى له غمه عابد خان چې ما له كورمې سره شړلے وۀ هغه ئې هم د كورمې سره بيولے په ډوډه كښې ئې ځائے وركړے وۀ. بهرام په حال سک په هغه لښكر كښې گرځيدۀ چې هيڅ اسره ئې پاتو نۀ شوه. سلسله جنبان د صلح شۀ. هر نيک و بد ته به ورغے چې كۀ ما وزولئ د فلانه تر پښو مې پريباسئ. اخر الامر ناصر خان ته په تمام سماجت مستدعي د دې كار شۀ. ناصر خان يوه ورځ په خلوت كښې راته ووې چې فلانه دا شخص ما دربسې نۀ پريږدي دې تا څۀ صلاح ده. ما ورته ووئيل چې دې تا رضا څۀ ده؟ دۀ راته ووئيل چې دې تا بهبود. ما ورته ووې چې دې ما بهرام سره دښمني سهله. د دۀ دښمني دې ما د پلار وه په دغه دښمنى كښې وفات شوے دے كۀ هغه ژوندے وے د هغۀ صلح دې ما صلح وه. چې هغه نشته دې ما صلح نۀ كيږي. مگر خداے تعالیٰ توفيق دهنده دے. خپل قابو نۀ گورم چې انتقام د پلار د غليمى ځني رانيسم. او بل بهرام قابل د صلح هم نۀ دے. كۀ په دۀ كښې يو دوه خطا وے خلوښت كاله به د دۀ سره په غليمى نۀ تيريدل. دا ئې هم يو فريب په خاطر دے. تۀ هم ځني خبردار اوسه او زۀ به هم ځني احتياط كوم اما په حكم د دې بيت:

دشمن کہ بہ عذر شد زبانش ایمن مشو مرانش

باري لگه دے مستدعي د صلحې دے خوے د دۀ دې راشي دې ما تر پښو ئې پريباسه نور چې زۀ وايم هسې دې كا. خوے ئې د بهرام راوست دې ما تر پښو ئې پريبوست. پس د دوؤ ورځو بهرام ورغے فاخر خان ته ئې ووئيل چې دې ما او د فلانه سره صلح ناصر خان وكړه او په تا باندې به لښكر كوي. فاخر خان عرضي و بهادر شاه ته وكښه. د ناصر خان شكوه. بهادر شاه هغه عرضي بجنساً و ناصر خان ته راستوله. زۀ هم له دې مقدمې خبر شوم چې ناصر خان مې وليد تبسم ئې راته وكړ. وې وئيل چې لگه تا وې هسې وۀ. نور بهرام له هغه لښكره ووت په

وسیله د دغه خبرې ورغے د بنګښو په ډوډه کېنې ئې خائے ونيو. بهادر شاه لاړ کابل ته زۀ هم تـر خيبـره ورسـره وم. پـه خيبـر کښـې ئې پخپله راته ووې چې تۀ ورځه رخصت. اما شهزاده خـجستـه اختـر مـې پـه جـمـرود پـريښـے دے. دے وروینه له دۀ رخصت شه. شاید په وخت د رخصـت شـاهـزاده خـجسـتـه اختـر التـمـاس کـړے وۀ چې دې ما سره ښوک نشته. دۀ ورته فـرمـائيـلي وو چې فلانه به راشي. تا به وويني. چې ښو تۀ په جمرود ئې دے هم درسره وساته. چې تـۀ لـه جـمـروده پښاور ته روان شے دے رخصت کړه. له بهادر شاه رخصت شوم چې له شهـزاده رفيع القدر رخصتيدلم دۀ راښې پوښتنه وکړه چې بهادر شاه ښۀ درته ووې اظهار مې ورتـه وکړ. راته ئې وفرمائيل چې شهزاده خجسته اختر مۀ وينه بيرون تر جمروده ځه. ما ورته التـمـاس وکـړ چې تعظيم د امر لازم. نور ئې وفرمائيل چې ښه وې وينه.[۱۰ ۳] نور معطل مۀ کـوه درومـه. چې پـه جـمـرود کـښـې مـلازمـت مې د خجسـتـه اختر وکړ رخصت مې ښې وغـوښـت. راتـه ئـې وفـرمـائـيـل چې مـا په جمرود کښې پريږدے تۀ راښې ځے. ما سره دلته ښـوک نشتـه چې ښـو شپې راسره تيرې کړي. ما ورته التماس وکړۀ چې امر د شاه هسې وۀ چې زۀ تـا ووينم نور رخصت شم. راته ئې وفرمائيل چې رفيع القدر سره دې دا هومره خدمت وکـړ دې مـا سـره لـس شپې نۀ تيروے. لاچار ورځخه پاتو شوم. ډيره مهرباني ئې وکړه. دوه خـلـعتـه ئـې راکـړۀ نـور ئې کور ته رخصت کړم. ښو وخته پس خجسته اختر هم راغے سرائ ځـخـه مـې ملازمت وکړ په نرى ورغے دې ما په باغ کوز شۀ. ښلور قچرې دوه بازه يو اس ئې تـر نـظـره تيـر کـړ بيـا پـه خيـر آباد ئې دوه درې شپې وکړے. نور بيا پښاور ته لاړ. زۀ ئې له ګـرداب رخصت کړم. بيا هغه کال بهادر شاه چې کابل ته لاړ وۀ له کابله چې پښاور ته راغے لـه جـمـروده بيرون تر ښهره په نيت د افضل آباد د باغ د ليدو او د دې ملک د سيرو ښکار راروان شـۀ. زۀ هـم نـوښـهـر لـره مـخې ته ورغلم ملازمت مې ئې وکړ. خان خانان عرف منعم خان او فتح الله خان (۱) چې دواړه امرايان عالمګير شاهي وو بادشاه په پيشکارى د بهادر شاه د کـابـل د صـوبې رخصت کړې وو خبر ئې د اټک د رسيدو راورسيد. سبا چې بهادر شاه په سن زر سل اوولس کوچ وکړ زۀ نژدې و باغ ته د افضل آباد ښې رخصت شوم. په عرض مې ورسـول چـې منعم خان او فتح الله خان په اټک راغلي دې زۀ ئې استقبال ته ورشم. چې شپه مـې سـرائ تـه راوړه بيـا راپسـې يساولانو حکم راوړ چې سبا د وخته راسور شه شهزاده رفيع الـقـدر سره تۀ او ناصر خان د ببرو ښکار ته درومې. په موجب د حکم مې په دوؤ خلو باندې د شهـزاده ملازمت وکړ. د دوړانو (۲) پـه لار مـې خير آباد ته ورروست. د هوډې راجه تر کرپې مې تير کړ. په ښګې کښې ئې ډيره ونيوه. ښکار ئې د ببرو وکړ ډير خوشنود شۀ. دوه شپې

مې په هغه ځائې وشوے. خبر راغے چې بهادر شاه له افضل آباده کوچ وکړ. همروزه د خان دوران سرائ ته ورسيد. شهزاده رفيع القدر هم له دغه ځايه کوچ وکړ د خان دوران و سرائ ته ورسيد. نور زۀ له خير آباده د منعم خان او فتح الله خان په ليدل ورځنې رخصت شوم. بيا منعم خان راپورې شۀ ومې ليد. څو ورځې پس فتح الله خان راپورې شۀ دے هم په خير آباد کښې وليد شۀ. ظاهر ئې ډيره چاپلوسي راسره وکړه اما باطن د دۀ د تمام خلق الله سره ورانه وه. ډير بدخوئ وۀ. له خپله بد خويه هميشه لت خورده وۀ. پخوا چې په دا ملک کښې وۀ تر کابله پورې دا پښتون هر چرته چې وۀ د غلځيو د شيرانو د مهمندو د شنواريو په حدود کښې به چرې تانه دار شۀ له خپله شامته له بدسلوکی به هميشه لوټلے وهلے شړلے وۀ. بدې به ئې زور کړه. نور چې څوک به ورته په بدی ودريدل گريزنده وۀ. زر به وتښتيد. بلکې ناموس ئې څو خله پښتنو په بند کړے وه. اخر په دا فعلونو امير خان طوق زنځير کړ عالمگير ته ئې واستوۀ. هورې ئې مغلو سفارش وکړۀ چې بادشاه به سر [۱۱۳] مهم د دکن دے. مير محمد صادق خوستي چې په قيد کښې د بادشاه دے کۀ خلاص شي چرته به په کار راشي. بادشاه له قيده خلاص کړ. په دا مهم کښې ئې ترددونه وکړۀ خوړے وروته ئې د بادشاه په کار راغلۀ. فتح الله خان ئې خطاب ورکړ. بيا ځنې بې ادائي وشوه څو ځله بې منصبه قيد شۀ. اخر امير خان چې ومړ بهادر شاه د کابل صوبه دار شۀ فتح الله خان د کابل وطني وۀ آرزو ئې د کابل ډيره وه بهادر شاه بادشاه ته وکښل چې ما سره هسې سړے قابل تردد نشته. کۀ يو امر له حضوره دې ما په پيشکاری راشي. بادشاه فتح الله خان راستوۀ. دے چې دلې راغے له پښتنو سره ئې هغه پخوانی دښمني په کمال وه. او هر چې امير خاني مغل وو په دا صوبه کښې له هغو سره ئې هم دښمني وه. زۀ ئ له سرائ رخصت کړم راته ئې ووئيل چې اس او سروپائ مې دې تا دپاره راوړې دې. اما اوس ئې په دا نۀ درکوم چې لا بهادر شاه ما ليدلے نۀ دے د دۀ په خاطر به ورسې چې پخوا ئې بندوبست شروع کړ. هر گاه چې بهادر شاه ووينم دے اختيار د بندوبست و ما راکا نور به زۀ تا راوبولم. يو د لارې مچلکه د نيکی بدی به درځنې غواړم چې بادشاه ته دې تا او دې ما مجرئ وشي. نور په پښاور ئې ملازمت د بهادر شاه وکړ. بهادر شاه له خپله لاسه دے له بادشاه غوښتے وۀ. بل علاج ئې نۀ وۀ تمام اختيار ئې ورکړ. نور هغه بدبخت په يوۀ خل هسې ظلم آغاز کړ. اول سردار خان چې توراني امرا وۀ د امير خان په وخت ئې دے په توره په سر وهلے وۀ هغه ئې له دې صوبې خارج کړ. بيا ئې امام قلي او مير جعفر چې د امير خان په وخت متصديان د پښتنو وو بهادر شاه په جالې کښې راوبلل سرتور ئې کړۀ په کوسړو ئې ووهل.

د کابل له صوبې ئې اخراج کړۀ. بيا ئې ملک محمد ارباب د مستجاب خوے په قيد کړ چې خواه ناخواه هومره زر راکړه. بيا ئې د خيبر ملکانو اختيار ورکزي يوسف د عالم خان افريدي خوے ديو ته ووئيل چې پښتانۀ چې امير خان له دو ماهي په چار ماهي طلب راوستلي دي اوس يک ماهه نوره هم دې ما په مخ کفايت د سرکار کانئ. هغو ورته ووې چې دا يک ماهه زمونږ په اختيار نۀ ده. دا منصبونه د اولس دي. کۀ مونږ ورته ووايو اولس راضي نۀ وي بيا يوه ورانه ودانه وشي تۀ به مونږ ملامت کړے. تۀ ورشه په خيبر اولس جمع کړه کۀ واړه ئې په صلاح درکوي مونږ لا په دا راضي يو. په دا ئې سره خبره مقرره کړه. موسم هم د نورروز وۀ. د بهادر شاه هم کابل ته د کوچ وخت وۀ. بهادر شاه هم ورته ووئيل چې تۀ درومه د خيبر د پښتنو سره مصلحت وکړه. بيا راشه چې زۀ هم کوچ وکړم درومم. په دا وخت کښې ئې زۀ هم په خاطر ياد شوم. بهادر شاه ته ئې عرض وکړ چې فلانه هم عمده زميندار دے. دا هومره کاله د امير خان د وخته راهسې مفت ئې ملک خوړلے دے کۀ څۀ پيشکش ځنې واخستے شي. بهادر شاه هم دۀ ته تمام اختيار ورکړے وۀ. ځان ئې تماشبين کړ ناست وۀ. چې کۀ دا کارونه د دۀ پيش لاړ شي نقش به دې ما د صوبه داري درست کښيني او واړه پکښې کفايت د سرکار وي. او کۀ نه پښتنو شروشور وکړۀ زۀ به بادشاه ته په دۀ[٣١٢] ملامت وکړم اګر چې دې ما نقش بهادر شاه ته د خدمت او د راستي او درستي ښۀ پريوتلے وۀ راځنې رضامند وۀ. اما خرګند دې ما دپاره نۀ مدعي کيدۀ. ورته ئې ووئيل چې ښه خبره ده کشکے درکوي. يساول ئې د حسب الامر سره دې ما په طلب راستوۀ. نمازپښين وخت يساول راغے. ما تمامه قبيله په خلوت کښې سره معرکه کړه. ورته مې ووې چې نور کله د مغل نه دې ما وسواس نۀ وۀ چې به تلم راتلم تاسو مې نۀ پوښتيدئ. اما دا ناسزا او دا نارسا تاسو هم اورئ چې څۀ کا. دې ما تلل دا ځل خالي له خلله نۀ دي. کۀ زۀ ورشم او تقاضا د پيشکش وکا هغه ګنجائش خو نۀ زمونږ په ملک کښې شته نۀ تاسو څخه شته نۀ ما څخه شته چې روبرو و دۀ نه وکړو خواب سوال وشي کومه مزه. بهتره دا چې يو عذر به تر ميان کړو د دې خبرې تحقيق به وکړو کۀ دے به تقاضا کښې نۀ وي خپله خاطر جمعي به حاصله کړو نور به ورشو. او کۀ نه د دۀ دغه مطلب وي خود به له پردې بيرون شي. زمونږ ورتلۀ بهتر. تمامي قبيلې مصلحت صلاح دا خوښه کړه. اما هغه دوه ورونه کادي او بادي منافق شيطانان چې د بهرام سره ئې پټ سازښت وۀ او رضامند د دې ملک په خرابۍ ور سعي به ئې کړه چې کۀ دے تر هغه خايه ورشي ګوندې يو نقصان وررسي. ما هم نظر په دا وکړ چې اوس لا هيڅ نيکي بدي ښکاره نۀ ده. کۀ زۀ نۀ ورځم دې ما دا خدمتونه او نيک خواهي به واړه برباد لاړ شي. ملامت به د هر چا

راپانـدي وشـي. او بل ما هم تقصير څۀ هسې کړے نۀ دے چې يکايک لاس و ماته اچوي. او دۀ نه معاملې نورې هم د خيبر ورپېښې دي. يو ځل ورتلل تر هغه ځايه لازم دي. کۀ دۀ اظهار د خپلې حـرامـزادگـۍ وکړ بيا له هغه ځايه راتلل زمونږ تر خدايه تر خلق عذر دے. په دا سبب ورروان شـوم ورغلم. اول مې په ښکارگاه کښې د بهادر شاه ملازمت وکړ په عادت قديم چې به ئې خبرې راسره کړے پوښتنه به ئې کړه هيڅ ئې راسره ونۀ کړۀ. څو قدم ئې په جلب کښې روان شوم. نور ئې اشارت راته وکړ چې سور شه. بيا راغلم منعم خان وزير مې وليد. هغۀ خپل يساولان راسـره کـړۀ ورغلم. فتح الله خان مې وليد. ډيره چاپلوسي ئې وکړه. راته ئې ووئيل چې فلانه دروم خيبر ته روانيږم ما ووې ښۀ وشول زۀ هم په وخت راورسيدم. ستا د وړاندې اول خـلـمـت دے دې ما چې درته ئې ښکاره کړم راته ئې ووئيل چې دا ځل تا راسره نۀ بيايم. ما ورتـه ووې چـې مـا دزسـره نۀ بيائے نور به ما څۀ کړے زۀ د نور کار نۀ يم. راغلم تۀ مې وليدے کـور تـه مـې رخصت کړه. راته ئې ووئيل چې زۀ دروم خيبر ته. يوه هفته ته راته وگوره. لکه پـخـوا مـا درتـه وئيـلي وو مچلگه به درځنې واخلم نور به دې رخصت کړم. ما ورته ووې چې مـچـلـگـه خـو دوه گـوتـې کـاغـذ دے اوس وکښه واړ خله. راته ئې بيا ووئيل چې هرگاه زۀ راوجـاروخـم هـالۀ به ئې واخلم. ما ورته ووې يا مې درسره بيايه چې زۀ خدمت وکړم. يا مې و کـور ته رخصت کړه. غرض مبالغه ډيره وشوه اما د دۀ حرامزادگي صريحه رامعلومه شوه. دۀ مـنـعـم خـان او بهادر شاه ته خبر ورستولے وۀ چې فلانه راغے حاضر شۀ. کۀ حکم کړے څۀ به ځـنـې وغـواړو. بهـادر شـاه[۳۱۳] ورتـه ووې چې دې تا د وړاندې په خيبر کښې کارونه هم وران دي. دا د ورروستـو کـارونـه مـۀ ورانـوه. هرگاه چې د خيبر معاملې صافې کړے راشے بيا اختيار لرے. د لوړے اختر يوه ورځ پاتو وه چې جمرود ته ئې کوچ وکړ. ناصر خان چې په هغه آوان د تـوپـخـانـې داروغـه وۀ ورسـره ئې روان کړ. دې ما عرض ئې و شاهزاده رفيع القدر ته وکړ چـې زۀ هيـڅ تـقـصيـر په خان کښې نۀ وينم دا هومره مدت مې خدمت دې تاسو وکړ په اميـد د نيک بـختـۍ تر اوسه خو نتيجه دا وه چې څو وخت د خدمت وۀ تري بولاق دې ما په انـعام کښې وو. چې وخت د خدمت تير شۀ و فاخر خان ته تنخواه شۀ. اوس دا ناسزا او نارسا چـې راغـلـے دے دې ما سره مخالف ليدے شي کۀ تاسې هم دې ما په بدی رضامند ياستۍ زهے کـم طـالـعي. او کـۀ نۀ وي دې ما يو خاطر نښان وکائ چې زۀ په ارام خاطر تاسو څخه ناست اوسـم. او هـم شاهزاده هغه عرضي د بهادر شاه تر نظره تيره کړه او التماس ئې وکړ چې فلانه زمـونږ سره ډير خدمت وکړ. چې څوک د پادشاهانو سره خدمت وکا اميد ئې د نتيجۀ نيک وي. کۀ فتح الله خان د دۀ سره بد وکا زمونږ ختې به په جهان د بدی وخيژي. کۀ تۀ حکم

کړے د فلانه ډیره به زۀ خپلې ډیرې څخه راوړم وبه ئې دروم. بهادر شاه ورته ووې چې اختیار لرے. شاهزاده وپوهید چې یعنې مطلب د بهادر شاه دا دے چې دې ما اختیار نشته. نور شاهزاده په هغه ساعت و ناصر خان ته چې دې ما اخلاص مند ئې ګانۀ خواب ئې واستوۀ چې فلانه ته ووایه هر فکر چې پوهیږے خپل فکر دې کا. ناصر خان د اختر په ورځ عبدالرحمٰن چې ورسره وۀ رائ ستوۀ چې څو فتح الله خان درجاروخې پښاور ته هر رنګ چې خپل فکر پوهیږے وکړه. عبدالرحمٰن راغے د ناصر خان پیغام ئې هم راته په خلوت کښې وکړ او له خپله لوریه ئې راته ووئیل چې زۀ فتح الله خان سره خلا ملا یم. په خلوت کښې چې چرې دې تا ذکر وشي دې تا په ښۀ نۀ یادوي. له دے سرپه حذر وکا. نور په خاطر راغلل چې زمونږ له زمیندارانو له مغلو سره زیست کله څۀ رنګ کله څۀ رنګ پیښ شي. کله نا دولت خواهي وسیله شي کله دولت خواهي په دوي اعتماد نشته. په قابو څبله زیست به وشي. دا زمان خان کناره کړے بویه. کۀ دوي خواهان زمونږ د خدمت وي په خپل ملک ناست به ئې خدمت کړو کۀ نۀ وي ملک به پریږدو. بل قابو ته به ګورو. نمازدیګر له خپلې حویلی سور شوم وخت د بتیرو د ښکار وۀ د باښو ښکار مې کاوۀ تر هزار خوانی پورې راغلم نور مې لار ونیوه. سرائ ته راغلم. فتح الله خان چې په علي مسجد ورغے پښتنو ورته د علي مسجد لار نیولې وه. اما د لښکر حلاوت ئې نۀ وۀ. په هغه آوان په دا ملک هسې قحط نازل شوے وۀ چې هر قسمه غله به اووۀ سیره خرڅیده. مور به ئې خوړل څوي ته به ئې ست نۀ کاوۀ. پښتنو سعي د لښکر د ټولې ډیره وکړه اما جزوي عالم په علي مسجد جمع شۀ. فتح الله خان وپوهید چې پښتانۀ په شدت دي ملک اختیار ورکړے د عالم خان افریدي څوے او ملک چوهړ مهمند د څو نورو سره ئې په قید کړۀ. بعضې څنې غیر حاضر شول. جنګ ئې په علي مسجد وکړ. څونصو جزائیل او جزائیل بردار چې خپل بادشاهي ورسره وو پښتانۀ ئې له[٣١٤] علي مسجده پاځول. څۀ د علي مسجد بتیاري څۀ نور ئې مړۀ کړۀ. سرونه ئې بهادر شاه ته واستول. شپه ئې په علي مسجد وکړه. صبا ئې ناصر خان په علي مسجد پریښ. دۀ کوچ وکړ. د لواړګي په لارو ډکې ته کوز شۀ. پښتنو کۀ هر څو سعي د ټول وکړه په سبب د توښې میسر نۀ شۀ. میان موسیٰ بتي کوټي (١) ئې تر میان کړ. چوهړ مهمند ئې هم خلاص کړ صلح ئې ترمیان کړه. پښتنو هم موافق د وخت خس پوښې ورسره وکړه. څو ملکان ئې ورسره پیښور ته راوستل. ملک اختیار یوسف چې ورسره په قید کښې وو هغه ئې هم ورسره راوستل خو چې پښاور ته راغے د بهادر شاه په عرض ئې ورسول چې ملک محمد ارباب په جلال آباد کښې ناست دے پلاوونه خوري. فلانه له تانه غیر حاضر کور کښیناست. د ما د

لاسه کار نشي. بهادر شاه ورته ووئيل څه کړي. بويه. دۀ ورته ووې چې ملک محمد دې د کوتوال په حواله شي چې په انواع عقوبت ئې گرفتار کا. او فلانه وته دې يساولان ورشي چې وې نسي را ئې ولي. بهادر شاه وفرمائيل اختيار دې تا دے هر رنګ چې کړے. ملک محمد ئې په حواله د کوتوال کړ. په انواع عقوبت ئې گرفتار کړ. او ما وته ئې يساولان راروان کړ. خواب ئې دا وۀ چې کۀ راځې راځه او کۀ نۀ هرځائے چې تۀ وے هورته څه. ما وته د وکيلانو پخوا خطونه راغلي وو. منتظر د يساولانو د راتللو ناست وم. مالونه اسبابونه خلق واړه په خپلو ځايونو کړي واړه جريده د قبيلو سره ناست وو چې يساول راغے خواب ئې وکړ. نور مې ورته ووې چې و بهادر شاه دا وکښه چې زۀ نوکر وم خدمت مې کاوۀ. اوس مې نوکرۍ کښې بې عزتي وليده. بنده د خدائے يم. ګو نوکري مې پريښوه. په دا خدمت چې زۀ يم هر څوک چې دې تا رضا وې راستوه. زۀ دا يم قبيلې لرې کړے جريده تر هغه پورې ناست يم چې دا بار امانت چې د بادشاه له لوريه په ما سپارلے وۀ. بيا امانت د چا په حواله کړم چې خلل او نقصان پکښې ونۀ شي. او فتح الله خان ته وکښه چې زۀ اراده د مکې معظمې لرم. تا ونيلي دې چې هر چيرے ته هورے څه. په دا اتيا کاله عمر چې دې تا راغے دا شرف دې حاصل نشۀ. رادرومه چې دې ما په قدم کښې دې روزي شي. نور مې دا د قبيلې او د اولس عالم راوبالۀ معرکه مې وکړه چې مصلحت څۀ دے. اوس کله چې و غرۀ ته بيايو کۀ تر سيند پورې يوسف زيو لورې ته پورې کړو. واړو دا ووې چې دا وخت په عالم قحط دے. په سبب د خشک سالي د مونږ په غرۀ کښې هيڅرته اوبۀ پاتو شوې نۀ دي چې څوک پرې ميشته وکا. بل ګياه هرګز نشته. دواب چارپائې به واړه راځخه تلف شي. غله به هم په دشوارى په لاس راځي. بهتر دا دې چې د يوسف زيو په لورې دا کله پورې کړو. اتفاق هم په دا وشۀ. نور مو دا سره مقرره کړه چې کله په جهانګيرې په جلبى په تورډهيرې (۲) او مونږ جريده په سرائے يا په مصري باندې. څو صورت د معاملې خرګنديږي فاتحه په دا وشوه. هر څوک سره رخصت شول. هغه بدبختان ګادي او بادي منافق چې له مجلسه ووتل نور کور په کور په دا قبيله ګرځيدل چې رائيشي. فلانه دا ملک پريښ. بهرام به مونږ راولو په دۀ به مغل راضي شي. اما هر چا بد ورته ووې. ملامت [۵ ۱ ۳] ئې کړۀ. کله د مونږ واړه ولاړه و جهانګيرې ته. ما په خان د مصري باندې په باغ کښې ډيره ونيوه. دا خطونه او يساول د بهادرشاه ورغلل. بهادر شاه ناصر خان او اسفنديار وبلل و فتح الله خان ته ئې واستول چې ما خو هاله درته وې چې دا مناسب نۀ دي. فلانه دې ما سره ډير خدمتونه کړي دي او بادشاه ته ئې نقش د نيکى درست دے. بې سببه بې تقصيره آزرده شۀ. بهرام چې په هغه آوان کښې د کوررونو سره

د افریدیو په جینا کړ کښې وهٔ. عیسٰي مهمند ماشوخیل چې له پښاوره فراري شوے په لاهور و مخې ته د فتح الله خان ورغلے وهٔ. بهرام د هغهٔ په لاس فتح الله خان ته خط کښلے وهٔ. فضولي د دهٔ عادت وهٔ چې زهٔ به یو نیم لک روپۍ و تا درکړم که دا ملک د خټکو و ما راکړے. فتح الله خان چې بالهٔ وپوهید. چې معامله په رښتیا شوه نهٔ د ما څخه زر شته نهٔ په ملک کښې هومره گنجائش شته. وپوهید چې د خپلې خلې اور مې لگولے دے. ویساه ئې پرې ونکړه. فتح الله خان هم ورته وپوهید چې قباحت وشهٔ. دغه بدبخت بازي راکړه. دے راخې نه او فلانه مو آزرده کړ. نور ئې بهادر شاه ته ووے چې اختیار د تا. هر شان چې فلانه دلاسه کوے دلاسه ئې کړه. نور ئې سرې ترمیان کړهٔ. ډېره دلاسه ئې راسره وکړه. دې ما کله چې جلبی ته ورغلې وه. کمال زیو وارو په اتفاق سره مصلحت وکړ. لښکر ئې جوړ کړ چې د شپې په جلبی اور لگوو چې د کلي عالم له کلیه ووزي. زهٔ په هغه وخت په خیر آباد کښې وم. په جلبی دې ما عالم مردان هیڅوک نهٔ وو نور به دا مالونه راته پاتو شي. آخر په شپه راغلهٔ و کلي ته نزدې شول. څوکی د کلي محکمه وه قابو ئې ونهٔ لید. صبا ئې د کلي مواشي په مخه کړل روان شول. د کلي عالم پرې پسې ورغے. زور ئې پرې نهٔ لیدهٔ. مال ئې څنې بوت. په ما ډېره بده ولگیده چې زهٔ له مغلو د یوسفزیو په لور روان شوم له کلي سره دے بې شرمانو ته بالدهٔ وو چې دِما مدارات ئې کړے دا کوم لازم وو نور مې و اولس ته حکم وکړ چې تاسو هم تاختونه پرې وکانئ. صرفه نهٔ بویه. اولس هم تاختونه پرې وکړهٔ بے درېے هومره مال ئې راووست چې دا قحطي کال ئې پرې تیر کړو. آخر وپوهیدل چې خرابي راپیښه شوه. ننواتې راغلهٔ. روغه ئې وکړه. نور د بهادر شاه د کوچ وخت کابل ته نزدې شهٔ. فتح الله خان عرض وکړ چې له فلانه د مونږ وسواس دے. کهٔ دے راوبالهٔ شي آس او سروپا ئې ورکړے شي، رخصت شي خاطر جمعي به وشي. آخر بهادر شاه متواتر حسب الامرونه او یساولان دې ما په طلب راستول. ما ورته وکښل چې اولس او بندوبست مې درست گډوډ دے دا زمان زما درتلهٔ نشي. هر گاه چې تهٔ په خیریت له کابله وجاروزي پښاور ته راشے بولې مې دربه شم. بهادر شاه ولاړو کابل ته ورغے. فتح الله خان تنگ حوصله وهٔ. په دا هومره پیش آمد کښې ئې د بهادر شاه ډېر ځان غلط کړ. د بهادر شاه خو نوم پاتو شهٔ نور واړه کار مدار په دهٔ شهٔ. بهادر شاه د بادشاه له ملاحظې څر گنند بد ورته نهٔ وایهٔ. امراگان ئې ورته ودرول [۱۱۲۴] خفت ئې وکړ. چې بیا له کابله راوجار ووت. په ډکه باندې راغے. پښتنو د خیبر لار ورته نیولے وه. فتح الله خان او منعم خان ئې وراندې کړهٔ. ډېر جنگ ئې وکړ. د فتح الله خان لښکر ئې مات کړ. ورستو منعم خان او نور فوځونه بادشاهي وو په هغو پورې ئې پښه ونیوه آخر ئې پښتانهٔ له

لاري راپاخـول. بهادر شاه راتير شۀ. اما بهادر شاه فتح الله خان جلال آباد ته رخصت کړ. او بهـادر شاه چې پښاور ته راغـے . منعم خان ئې د لاهور صوبه دار کړ. په دا لاري چې څۀ دِ ما له لوريه ئې وسواس په خاطر وۀ. چې د فتح الله خان د اخلاص په سبب مې به دے ونۀ ويني. چې پـه نـوښهـر راغـے . سرې ئې مينځ کړۀ چې البته ما ووينه. زۀ چې له قبيلو سره په خير آباد وم له خپله جمعيته سره گيدړ گلي څخه راغلم. دے مې وليد. تر ډيرې پورې ورسره راغلم. نور له لارې کـور تـه رخـصـت شـوم. خـواب ئـې راسـتـوۀ چې بيگاه راشۀ چې طعام دلې وخورې. ما خـواب ورسـتـوۀ چـې تـۀ د بـادشـاه وزيـر ئې. د تا آش سرفرازي ده کور ته ئې راستوه چې هر څـوک ئـې ووينـي. صبا چې دے پورې ووت، وم ليد . خلوت ئې کړم ډيرې خبرې ئې راسره وکـړے. راتـه ئـې ووئيـل چې د ما په معرفت د شاه (۱) مـلازمـت وکـړه ما ورته ووئيل چې تۀ وکـښـه. کـۀ بـولـې مـې مـضـائقه نشته وربه شم. آخر چې به ډيرې کښې کښيناست سروپا ئې راکـړۀ. راتـه ئـې ووئـيـل دِ تـا دِ قـسـم وي چې کۀ ما بې وروره بل څۀ وشمارې او زما دې هم قسم وي کۀ تا بې وروره بل څۀ وگنم. رخصت ئې کړم. کور ته راغلم. پس له هغه بهادر شاه نښـان د منعم خان د ځوي په معرفت زما په طلب راستوۀ. پښاور ته ورغلم ملازمت مې وکړ. ډيره مهـرباني ئې وکړه. وې فرمائيل کۀ ما څخه وۀ هم ځني راضي يم. کۀ لاړ هم ځني راضي يم. کـۀ راغـے هـم ځـيـنـې راضي يم. اوس هم اختيار د دۀ خو ئې رضا ده ما څخه دې وي. چې ځـې رخـصـت ئـې هـم پـه خپل راتلل ئې هم په خپل اختيار. بيا د منعم خان ځوي ورته عرض وکـړ. چې کۀ خلعت ورته عنايت شي وې فرمائيل چې خلعت توره او آس. پس له دريو ورځو رخـصـت شـوم. کـور تـه راغـلـم. څو وخته پس شاهزاده رفيع القدر راپيـې د ببرو د ښکار په هوس راغـے. په مفاصله د نيم کروه مې استقبال د شاهزاده وکړ. مخې ته ورغلم. ډيره مهرباني ئې وکـړه. د ښـکـار پوښتنه ئې راځينې وکړه ورته مې عرض وکړ چې ښکار ډير دے. زړۀ ئې ښـۀ شـۀ. د دۀ قـراولان چې پخوا و ښکارگاه وته ورغلي وو. وخت د بهار وۀ. اوس جدا جدا هغو ورته کښلي وو چې ښکار کم دے. زۀ پوهيدم چې د ښکارې سرې په خوشخبرى د ښکار زړۀ ښـۀ کيـږي. چې مې ورتـه عـرض وکړ چې ښکار ډير دے راته ئې ووئيل چې قراولانو دا هسې خـواب راستولے دے. ما ورته ووې چې گرم نۀ دې. وخت د بهار دے په سبب د مچو هوسيو خان پټ کړے دے. گنه ډير دے خوش وخت شۀ. ببرو ته ورغلو. د ماندوريو په ميله ئې ډيره ونيوه. يو څو هوسى ئې چې ښکار کړے خوشحال شۀ. از روئے مهرباني ئې وفرمائيل چې فلانـه ډيـر خـدمـتـونـه دې وکړل. ما عرض وکړ چې حضرت دا خلمت نۀ دے. زۀ خود ښکارې يم . جدا مې ښکار ونۀ کړۀ د حضرت [۳۱۷] په خدمت کښې تربيت شوم. آخر په

هغه آوان دې ما كور په خير آباد كښې وۀ. متصل دې ما د كور يوه باغچه وه. شهزاده چې له ښكاره راوجارووت وخت د توتانو وۀ گرمي وه. عرض مې وكړ چې كۀ ساعت د گرمی په دا باغچه كښې تير شي. راغے په هغه باغچه كښې كوز شۀ عجب آب روان وۀ. ډير خوشحال شۀ. ما هم درې اسونه عراقيان څۀ جنس مې تر نظره تير كړۀ. نور ئې وانۀ خستل پسته ئې راكړۀ. يو شرمگ اس چې ډير ښۀ اس وۀ شهزاده پخوا څنې خبر وۀ اما له ما څخه ئې غوښتے نۀ شۀ هغۀ ئې په ډير خواهش واخست. نور تر ښهره ورسره وم. له نوښهره ئې اس سروپاۍ ماته راكړۀ يو سروپاۍ دې ما وررور محمد خان يو سروپاۍ محمد سعيد دې ما فرزند ته وركړ. رخصت ئې كړم نور كور ته راغلم. وخت د بهادر شاه د كابل د تلو وۀ كابل ته لاړ شۀ. چې كابل ته ورغے فتح الله خان چاريكار ته لاړ كښيناست. هرچند بهادر شاه بالۀ ورلره نۀ راتللۀ. بهادر شاه په خپل موسم بيا پيښور ته راغے. بهرام نحوست انجام چې از راه مخالفت فاخر خان بنگښ فوځدار وۀ قابل ملک ميري د افريديو له جينا كوړ بيولے د كوهاټ په كليو كښې ئې ځائے وركړے وۀ. د ساغريو د غلو سره ئې ساز وكړ. زر ئې وركړۀ د بهادر شاه د كارخانه جات اوښان په خوړه كښې وو له اول ورځې چې اوښان د كارخانې راغلۀ ما منع كړۀ خوړه سرحد دې ما د وطن دے هغه لور ته محال ترې بولاق دے په بل لور سرحد د افريديو سره متصل دے. مبادا نقصان وررسي. هغه اوښ بانۀ په داد بهادر شاه ته راغلۀ چې زمونږ اوښان په خپل ملک كښې نۀ پريږدي چې چاره كا. بهادر شاه اعتراض شۀ دوه درې يساول ئې راستول بې اختياره ئې اوښان خوړې ته بوتلۀ. شهزاده رفيع القدر ورته عرض وكړ چې څۀ سبب به وي چې فلانه له هغه ځايه اوښان منع كړۀ. گنه دۀ به ولې منع كول لالوگے غل د څو كسو سره راغے سل اوښان كم و بيش ئې له سارۀ تويه بوتلۀ. اما په اشارت د قابل د بهرام لكه ذكر ئې شوے دے چې گوندې فلانه ته به بدنامي ورسي. اخر اوښ بانۀ بهادر شاه ته په فرياد لاړل. بهادر شاه يساول راستول چې دا اوښان دې تا په حد كښې ولاړ دي ځواب ئې وكړه. اخر زۀ هم تر نظامپوره ورغلم نجابت خان مې ساغريو ته ورستاوۀ معركه ئې د ساغريو هغه غلو ته ورروسته. پسې د قابل ځواب ورغے چې زنهار اوښان ور نۀ كانې. په ډير جرثقيل هغه اوښان چې د پيسو خرڅ پرې وشۀ راخلاص شول. د اوښ بنو په حواله مې كړۀ. رسيد مې څنې واخست اما بعضې اوښان هغو غلو ژوبل كړي وو. حلال ئې كړۀ. د هغو باقي اوښانو په دعوه زۀ هم بهادر شاه په سن زر اتلس وبللم. قابل ئې له كوهاټه وبالۀ. هغه حرامزاده متفني ځائے په ځائے منصوبې كړے وے چې دا اوښان دې تاوان په فلانه مقرر شي. ما عرضي د بهادر شاه د شاهزاده رفيع القدر په معرفت تر[۳۱۸] نظره تيره كړه. په دا مضمون چې

اوښان ما دغه لور ته نهٔ پرېښول په زور اوښ بنو ورروستل. هر چې دې ما لاس رسيد اوښان مې راخلاص کړهٔ را مې وستل. هر چې غلو وژلي خوړلي دي حد دې ما وهٔ او غلهٔ د فاخر خان د جاګير وو. کهٔ خدمت د حد له ښتنه غواړې زهٔ يم. او کهٔ له غلو ئې غواړې فاخر خان دې ئې ونيسي. بهادر شاه از راه مهرباني وفرمائيل چې حق د فلانه په جانب دے باوجود چې ترې بولاق د دهٔ په معرفت واخست شهٔ. نور ئې بډې ډېرې ورکړے اما چې شرط د ګنديت تر ميان د دهٔ د دښمن سره چې اسماعيل خان کوهاټي وهٔ ما لار د دوستي سازه نهٔ کړه. باوجود چې کرات مرات هغه دې ما کره ننواتې راغے او ډيرې زارى به ئې راته وکړے دا حرامزادګي چې له قابل وليدے شوے نور مې اسماعيل خان وبالهٔ ورته مې ووې چې ګنديت کښې خو به په ما ملامت نهٔ کړے تهٔ خود د قابل دښمن ئې هر چې ما دې تا سره د دهٔ په ګنديت په جنبه دارى کښې کړې دې خود پټ نهٔ دې. اوس حرامزادګي چې دهٔ کړے هم وينے. دهٔ ونيل چې حق دې تا په جانب دے. نور مې ورته ووې چې اوس ما هم ملا د دهٔ په بدى وتړله تهٔ هم تيار شه. په هغه شپه په سن مذکور و بهادر شاه ته خبر ورسيد چې عالمګير بادشاه وفات شهٔ. (۱۰) په تمام لښکر زلزله شوه. بهادر شاه د هندوستان په لور د کوچ په فکر شهزاده رفيع القدر او ناصر خان ته ئې وفرمائيل چې د فلانه په هر شان چې شي رضامندي کانئ چې له ما سره درومي. چهار هزاري منصب به ورکړم. او د نورو نورو چارو ئې هم اميدوار کړئ. شهزاده و تسبيح خانې ته وبللم. دا ارشاد ئې راته وکړ. ناصر خان هم ډير کوشش وکړ اما ما د تلو اختيار په خو شيونو ورسره نهٔ کړ. اول دا چې دروغ مې پکښې ډير وليدل وې مې چې کهٔ محنت مشقت ورسره تر سره شي نتيجه ئې ګوره وشي يا ونهٔ شي. دويم دا چې دے درومي و هندوستان ته صوبه دار د کابل په صوبه کښې نهٔ پرېږدي. دا ملک به ګډوډ شي کهٔ زهٔ لاړم دې ما د ملک نسق به هم وران شي. نام و ناموس ته به نقصان ورسي. پس له پينځو شپږ ورځو ئې کوچ وکړ. د اټک د سيند پل هر چې تعلق ئې دې ما په اولس وهٔ په ښهٔ روش ورته تيار شهٔ. زهٔ د دهٔ په رکاب کښې له پېښاوره ورسره راغلم چې په ګيدړ ګلى برابر راغلو راته ئې وفرمائيل چې فلانه په خوکى په پهره خبردار شه چې دې ما د لښکر عالم به پس له ما په دا لار رادرومي. ما ورته عرض وکړ چې حضرت دې ما له خوکى پهرې خاطر مبارک جمع لري. اما يو التماس لرم هرګاه چې ميدان خالي دے دې ما د ملک په تانه دارى چې خدمت ئې زهٔ کړم اضافې پرې نور عالم مومي. او چې دا هسې وخت شي حضرت تر پېښاوره د لارې عهده په ما سپارې. وې فرمائيل چې حق دې تا په جانب دے. بيا مې ورته عرض وکړ چې زهٔ په رکاب سعادت مآب کښې له پېښاوره راغم دې ما اولس هغه کار چې د پل بندى تعلق په

دوي لـري په دوه ورځې کښې په اتمام ورسوهٔ. حضرت دې خبر واخلي چې د اکبره راهسې دا هسې چا کـړي دي. تـر مـا پـه هـغه لور د دهٔ مير بحري وه له هغهٔ ئې پوښتنه وکړه هغهٔ هم عرض وکړهٔ چې دا هسې کار هيچري چا کړے نهٔ وهٔ. راته ئې وفرمائيل چې فلانه زهٔ له تانه ډير رضـامـنـد يـم تـا دې مـا ډيـر خـدمـت وکړ انشاء الله تعالیٰ کهٔ زهٔ بادشاه شم تهٔ د ډيرې نتيجې اميـدوار اوسـه. تـسـليـمـات مـې په ځائے راوړهٔ. چې راغلم[۱۹ ۳] و ديرې ته. اسماعيل خان بـنګښ هم راسره وهٔ چې قرض وام د چا پرې پورې وهٔ هغه مې خلاص کړهٔ. په ډير فلاکت وهٔ اول فـکـر پـه خـاطر هم دا وهٔ چې بهادر شاه پورې شي. ضبط د محال ترې او بولاق بويه. بيا وربـسـې نـصب د اسماعيل او اخراج د قابل مفسد. قابل مفسد هم پوهيدلے وهٔ چې په ما به دا هـنـګـامه راشي. بهرام ئې د څنګه کړے لاچې ته ئې ورروست. اما په هغه وخت چې بهادر شاه څخه په پښاور وم خبر د عالمګير د مرګ راغے. هغه دواړه ورونه شياطين چې کادي او بادي نـوميـدل ظـلـم د دوي د لاسه په دې خلقو ډير کيدهٔ. پورونه به ئې د خلقو واخستل بيا به ئې نهٔ ورکـول. او بهـانـه بـه ئـې وکړه چې د عالمو غوا غيلي به ئې راوستلے. دوه دوه مياشتې به ئې کور لويشلے. پې به ئې خوړلے چې زهٔ خبر شوم تعديل مې به وکړ. د کوندو يتيمانو پتې به ئې پـه زور لانـدې کـړل غـرض الـواع انـواع ستـمونه به ئې په عالمو کړل. چې وړې وو له خپله شـامـتـه حـادثې وهـلـي راغـلـي وو. دا هـسـې کارونه ئې نهٔ کړل چې مارهٔ شو ارام ئې بياموند.

رباعي:

سـفـلــــه پـــه مثـل لـکــه ډيـران دے   دولـت پـري بـانـدي لـکــه بـاران دے

بــاران چـــې نـــهٔ وي بـوئ دربـل وي   بــاران چـــې وشـــي بـوئ ئـــې روان دے

دا خـمـارونـه ئـې پـه زړهٔ کښې پـراتـهٔ وو کـله به ګرځيدل ډې ما په ورونو به ئې تقريرونه د عـمـلـداري کـول چـې کـهٔ دا ورونـه ترې ويزار شي. ګاه به ئې هغو ته انواع انواع صورتونه ښـکـارول چې کهٔ د دهٔ خاطر ترې آزرده شي. شب و روز په دا فکر کښې وو. اما وخت ئې نه ګيـد چـې دا خبر د بادشاه ګردی وشهٔ د شغال رويه غونډې ئې دم جنباني اغازه کړه. هغه مشر بـه ئـې پـه تـمـامـه قبيله ګرځيدهٔ ورته به ئې وئيل چې دا وخت نازک پيښ شوے دے زمونږ د ګـتـې دے. راځئ چې لـه فـلانـه ځهٔ وغواړو کهٔ نهٔ راکوي ليږده به اختيار کړو. هغه کشر به ګرځيدهٔ په درسته قبيله دا به ئې ورته وئيل چې په دا ملک باندې به اوس زوررور فساد راشي. زمـونـږ ځـهٔ ضـرور دے چـې د فـلانـه سـره تـورې وهو. راځئ چې د بهادر شاه د لښکره سره درومـو. زر بـه مو هم په لاس کښيوزي ځو مونږ رادرومو د دې ملک ښهٔ بده به هم تيره وي. کهٔ هرچند نصيحت ورته وشهٔ. فرد:

گر جان بدہی سنگ سیاہ لعل نہ گردد　　　　باطینت اصلی چہ کند بد گہر افتاد

یو څو کشران نور ورسره از راه بخت بر گشتګي له لښکره سره د بهادر شاه پورې وتل. هغه مشر کم بخت ئې په تمام نفاق پاتو شهٔ. هغه کشر ئې چې تر لاهوره ورغے. بیا ئې سرائ یاد شهٔ. راوجاروت. په هغه لارې چې لاړ وهٔ بیا پسته راغے. په دا آوان په سن زر سل نولس خبر راغے چې بهادر شاه او اعظم شاه سلطاني جنګ په جاجهو وکړ. اعظم شاه ئې د فرزندانو سره مړ کړ. په تخت د سلطنت کښیناست. (۱) ما هم مخ نهٔ ور کاوهٔ. روز مهینه مې ئې چې منع کړې وه هم هسې کله په اټک کله په هزاره ګرځیدهٔ خاورې ئې په سر اچولے. هندي:

"تھاؤں ہٹے ڈومنی نچے تال بےتال"(۲)

آخر مصلحت وشهٔ چې اسماعیل خان روان کړے بویه. اول دې ورشي د جمو په افریدیو کښې دې کښیني چې د کوهاټ سره زانو په زانو شي.[۳۲۰] او نجابت خان چې د بنادي پور فوخدار دے محال تري بولاق ته دې ورشي. هغه لښکر دې لاچی ته راکوز کا. دا د سرائ د الګي دا خود د حکم لښکر دے. پس له هغه به دا لښکر هم ورشي. صدر خان مې د اسماعیل خان سره مقرر کړ. اما هغه بدبخت کم طالع هم د هغو دوؤ ورونو په پلهٔ شوے وهٔ. نفاق ئې کاوهٔ ورسره نهٔ تهٔ. کله به ئې وې چې هومره لښکر راسره کانئ. کله به ئې وې چې هومره زر راکانئ. مثل: کہ خوئے بد را بہانہ بسیار ما به ورته وې چې وخت د زرو د لښکر واړه به درشي. اما تهٔ د اسماعیل خان سره د جمو افریدیو ته درومه. د هغو عالمو وخت د تیراه د تلو دے چې تاسو ورشئ هغه اولس به ونیسئ څو دلې د لښکر سامان سرانجام کیږي هغه به ولیږدې لاړ به شي. له دسته به مو وځي. چې اخر وپوهید چې نهٔ مې پریږدي خان ئې ړنځور کړ. اخر اسماعیل خان مې روان کړ چې نجابت خان له بنادي پوره درسره کړه جمو ته ورشه. بیا له جمو نه نجابت خان محال تري بولاق ته واستوه چې اسماعیل خان په بنادي پور ورغے د جمو افریدي تیراه ته لېنلي وو لاړ وو. د هغه بخت بر ګشته په سبب چې څو ورځې ئې معطل وکړ درست اولس له لاسه ووت. نور مې اسماعیل خان او نجابت خان ته وکښل چې تاسو درومئ څوترې ته. هغه لښکر د تري د بولاق جمع کانئ په لاچی راشئ. دیره ونیسئ. دوې دواړه لاړل هغه عالم د لښکر سره راغے د خورمو په تخت ئې واړول. قابل او بهرام په لاچی کښې د بنګښ له لښکره سره ناست وو. له دې لوریه مې نامدار خان او یحییٰ خان وغیره د تمام ختک له لښکره سره بنادي پور لره ورستول خو چې دا لښکر په بنادي پور ورغے قابل بهرام دواړه په تېښته ډوډې لره راغلهٔ. نور دا لښکر د نامدار سره جمو لره راغے. قابل دست پا چې شهٔ حیران شهٔ چې د کوم لوریه فکر کوم. د عابد خان کور چې په

ډوډه کښې وهٔ وپوهيدهٔ چې وخت په قابل تنگ شهٔ نور ځنې راوتښل. نامدار خان لره راغلهٔ. نجابت خان اسماعيل خان له لښکره سره په توران خيلو واړول. قابل از راه بې استقلالي ورروتښن. نجابت خان لره ننواتي ورغے. تړې بولاق سره جرگه شهٔ. د اسماعيل خان د قابل صلح ئې سره وکړه. دواړه ئې کوهاټ ته سره روان کړل. جنگ ونهٔ شهٔ. دواړه لوريه لښکر راوجاروت. بنه فتحه وشوه. تمام اولس و اسماعيل خان ته رجوع شهٔ. محال تړې بولاق ځنې ضبط شهٔ. فرزندي سيف الله خان مې د لاچې فوځدار کړهٔ. د قابل شيطنت حرامزادگي په خاطر وه اما لاس ئې نهٔ رسيد. مخفي طريق ئې پونصو يا زر روپۍ بهرام لره په ډوډه کښې ورکړے چې تهٔ خپله جنبه د څوترې راوبوله. دا زر ورکړه چې درسره ملهٔ شي تا لاچې ته ورولي. اما ما مهٔ بدناموه. هغه بدبخت بعضې تړې چې هيڅ مدان دي په اميد د زرو وبلل ډوډې ته. ځوے ئې ورسره کړ لاچې ته ئې روان کړهٔ. هرگاه چې فرزندي سيف الله خان خبر شهٔ له لاچې پسې راغے. د بهرام ځوے هغه تړې په تيښته تر ډوډې پورې لاړل. زر ئې تمام کړهٔ. بهرام ئې په ځائے پريښن. دوې ځنې څوترې ته لاړل. بهرام چې وپوهيد د قابل په بې استقلالی له ډوډې وتښ شرے کيرے [۲۲۱] ته لاړ. په دا معامله کښې د قابل نفاق هم معلوم شهٔ. قابل هم له اسماعيل خان ناويسا شهٔ هر څهٔ ئې په ځائے پريښول شرے کيرے ته وتښ. تمام استقلال د اسماعيل خان وشهٔ. بيا څو وخته پس د شرے کيرے عالم ئې ورسره کړ پا لښکر بيا په اسماعيل خان ورغے. اخر ئې خلق تر مينځه شهٔ بيا ئې صلح وکړه. بيا ئې اعتبار پرې نهٔ کيدهٔ. سره په پرخاش شول. اسماعيل خان نجابت خان ته چې د لاچې فوځدار وهٔ ورته ئې وکښل. نجابت خان د لښکره سره راغے. کمر ډنډ (۱) وغيره کلي ئې د قابل ووهل هر چې بې مروته اولس وهٔ واړه اسماعيل خان ته رجوع شهٔ. په دا ميان کښې ابراهيم خان د علي مردان خان ځوے او زبردست خان د ابراهيم خان ځوے دواړه پلار ځوے چې بهادر شا جنگ په اگره اعظم شاه وررور سره وکړ اعظم شاه ئې مړ کړ. (۲) دے بادشاه شهٔ. اجمير ته راجپوتانو ملک ته ورغے. بيا له هغه دکن ته په کام بخش کشر وررور پسې روان شهٔ. دے ئې د کابل صوبه دار کړ. (۳) رائ ستول. زهٔ هم مندروټو ته په سن زر سل شل ورغلم ملازمت مې ئې وکړ. ابراهيم خان ډير زوړ وهٔ او زبردست خان په بيماری دائمي گرفتار وهٔ. پښاور ته راغلهٔ عرض مې ورته وکړ چې اسماعيل خان دولت خواه دے. خلعت او پروانه دې ورشي په موجب دې ما د التماس ئې ورستول. اخر الامر د قابل سرې هم په دربار کښې گرځيدل کار سازې ئې کړه چې زهٔ کور ته راغلم اسماعيل خان له دې ملاحظې چې د قابل روزگا سازې د مغل سره کا مبادا د دهٔ کار پيش لاړ زهٔ ئې ونهٔ پوښتيدم. يوه جماعه ناکرده کار ئې تر

میـان کړه. اویا اتیا زره روپۍ ئې قبولې کړې. وخت د بادشاه ګردی وۀ په بنګښ کښې کۀ د دۀ میـرۍ وه مـال ئـې چې لـږ ډیر څۀ پیدا شول مغل ته ئې ورکړۀ. چې نۀ پیدا کیدل مغل مزه بیـامونده. د قابل د وئیلو تصدیق ئې هم وشۀ چې دا زر ګنجائش لري. نور ئې له اسماعیل خان غـوښتـل او قـابـل ئـې ورته وبالۀ مقابل ئې کړۀ چې کۀ تۀ نۀ راکوې مونږ قابل د وړاندې کوؤ. اخـر مـغـل پـه بـله د زرو دپاره د قابل په پیش آمد راضي شۀ. ماته ئې وکښل چې دا هسې زر اسماعیل خان قبول کړي وو اوس ئې نۀ راکوي. معقول ئې کړه. کۀ نۀ وي قابل وړاندې کوؤ. اخر وپوهیدم چې اسماعیل خان ناداني وکړه. ګوتې ئې د هاتي په خلۀ کښې ورکړې. ډیر مې ورتـه وکښل چې مناسب نۀ وو لکه دې وکړۀ. اوس چې څۀ در پیدا کیږي ورکړه. او ابراهیم خـان تـه مـې وکښـل چې دا وخت دې تا د دیو چارو نۀ دے. "یک من علم را دہ من عقل بے باید" په دا وخـت یو زمیندار چې د بل په مخ ودرې په تمام صوبه کښې سپک برهم شي. زبردست خان مـرد باهوش وۀ اما پلار ئې پیر فرتوت شوے وۀ. اختیار څنې لاړ وۀ. دې ما خبره ئې ونۀ نغوته. د یـوې بـښـخې پـه مـعـرفت چې کلان وته وه د دۀ په محل کښې د قابله ئې لس شل زره روپۍ واخستې فوځ ئې ورسره کړ کوهاټ ته ئې روان کړ. ما لره ئې هم وکښل چې زنهار تۀ مدد د اسـمـاعیـل خان مۀ کوه. هغه قابل مزور ګوره چې په دا هومره بې وفایي و بې مروتي چې ما د دۀ سره څـو نیکي کړې وې دۀ څو بدی وکړې. بیا به ئې سرفراز چې دې ما د نیایۀ څوے وۀ مـا لـره بـه ئ[۳۲۲] راستوۀ چې تـۀ د اسماعیل خان مدد مۀ کوه. کۀ زر غواړې کۀ خویښې غـواړې زۀ بـه ئـې درکـړم. له ما خطا وشوه په دا وخت کښې ئې بیا سرفراز راستوۀ زۀ د دۀ په مکر په حرامزادګی پوهیدم. خواب مې هسې هغه ملمع ورکړ. د مغل فوځ ورسره کوهاټ ته ورغـے. بهرام هم په دا دلیری تیري ته لاړ. اسماعیل خان قلعه د کوهاټ ښه محکمه کړې وه. په قلعه کښې ناست وۀ. د ورځې جنګ جدل کیدۀ ما په سبب د صوبه دار د خاطر کومک نۀ ورسـاوۀ. جانو ورکړے د جمو افریدي ئې ښۀ پکار شول. په هر جنګ برے د اسماعیل خان وۀ. اطـراف اولـس د بـنـګـښ دې مـا لـه ملاحظې د قابل ګندیت نۀ کاوۀ. د مغل زور نۀ رسید حیـرن شـۀ صـدر خـان مـې د تیـري فوځدار کړ فوځ مې ورسره کړ نیم ماهه طلب مې د دۀ د خـرځ دپاره پیشګي ورکړ. چې دروه بهرام خارج کړه. او تۀ په تیري عمل کړه. دا بدبخت مـنـافق چې هـورې ورغـے د بهـرام سـره ئې اتفاق وکړ. دې ما فوځ څنې جدا شۀ و لاچي ته نـجـابـت خـان تـه راغـے. قـابل نواب ته وکښل چې کار پیش نۀ درومي. کۀ تۀ لاچي بهرام ته ورکـړے. اسـمـاعیـل خان به تنګ شي نواب د خپل مقصود دپاره وکښل چې لاچي بهرام ته ورکـړئ. قـابـل بهـرام ته وکښل چې تۀ و صدر خان سره د تریو لښکر وکاږئ تر لاچي پورې

راشي. نجابت خان پاخوئ. دري څلور زره روپۍ به زهٔ در کړم. بهرام و صدر خان تري معرکه کړهٔ چې قابل څلور زره روپۍ درکوي کهٔ نجابت پاخوئ له قابله دا زر واخلو نور بيا راځه. ضرور شهٔ نجابت خان بنادي پور ته راغې. د بهرام ځوې مکرم خان هم له پلاره جدا شهٔ ورسره راغې. بهرام چې د تريو له لبنکره سره لاچى ته راغې قابل شريف زرين خيل ورته راستاوهٔ تريو زر ځنې طلب کړ هغو ورته ووئيل چې زر به په کوهاټ درکړو. تريو ورته ووئيل چې تر لاچى مو وې راغلو تهٔ مو اوس کوهاټ ته بيائې لکه دې اقرار کړې دې زر راکړه. گنه مونږ درومو. د هغو خو مکر وهٔ مطلب. خواب ئې ورکړ چې زر نشته. نور تري له بهرامه آزرده شول. دوي ئې په ځائې پريښول تري ځنې لاړل. هغه شريف چې له لاچى وجاروت د اسماعيل خان عالمو مړ کړ. بيا نجابت خان ورغې لاچى تيري ئې ونيول. بهرام له تريو رو سياه وتښې. بيا شرې کيږې ته لاړ. صدر خان قابل ته ورغې. پېنځهٔ شپږ مياشتې دا هنگامه قائمه وه. اخر فکر مې وکړ چې نواب هم په بلا اخته شهٔ. خرڅ ئې کيږي کار پيش نهٔ ځي. او اسماعيل خان هم په تنگ ورسيد. د الله داد خان خويشکي ځوې چې د بادشاه د لوريه د بنگښو فوځداري په نامه د دهٔ وه. د دې ملک ودانې ورانې چې ئې اوريدې له ملاحظې راتلهٔ نهٔ شهٔ. په قصور (١) کښې ناست وهٔ. هغهٔ ته مې وکښل چې تهٔ خاطر جمع لره رادرومه دې تا د بندوبست متعهد زهٔ يم. او گنه څو ورځې پس ورغې پس راځې پيش کار د سند بادشاهي سره زر راستوه. په موجب دې ما د کښو څو ورځې پس گماشته ئې راورسيد. نواب ته مې وکښهٔ چې گماشته د الله داد خان معه سند درگاهي و ماته راورسيد. اوس تقاضا دا لري چې زهٔ لښکر ورسره کړم. او عمل دخل په بنگښو کښې دې بيامومي. او دې تا د فوځ معامله هورته نازکه ده. بادشاهي کار په استعداد کړل ضروري دي. او کهٔ زهٔ لږ حرکت وکړم نور دې تا فوځ هلته ډوبيږي. څو معامله د قابل او د اسماعيل سره وه ما دې تا په خاطر دخل نهٔ کړ. باري اوس معامله بادشاهي[٣٢٣] پيښنه شوه. بائده دې چې تهٔ خپل فوځ زر دروبولې. نواب خوښ هم شهٔ. او د فوځ په نقصان بې استقلاله هم شهٔ. زر ئې راته وکښل چې دغه گماشته چې بمع سند درگاهي درغلې دې زر ئې ماته راستوه چې زهٔ خلعت ورکړم عذر مې تر بادشاه وشي ور مې ستوهٔ. خلعت ئې ورکړهٔ را رخصت ئې کړ. او اسماعيل خان تر هسې حده بې طاقته شوې وهٔ چې هغه دوه ورځې مې په زور په قلعه کښې تينگ کړ. نور مې فوځ په سن زر سل يوويشت د گماشته سره کړ. د بنادي پور په لار مې کوهاټ ته روان کړ. نجابت خان ته مې وکښل چې د لاچى د لوريه هغه عالم د لښکره سره کوهاټ ته ورشي. څو دا عالم تر جمو رسيدهٔ نجابت خان سبقت وکړ. اسماعيل خان ته ورسيد. قابل د مغل فوځ سره په

حرکت د نجابت خان د کوهاټ نه وپېښور ته لاړ. هورته ئې مغل ته خوړے په یرغمل ورکړے وۀقیـد ئـې کـړ چـې دې ما زر راکوه په یوه بلا اخته شۀ. اسماعیل خان د الله داد خان گماشته سـره مـلاقـې شـول. نجابت خان تر مینځه بندوبست وکړ. نور و لاچی ته لاړ. دواړه په خپلو کړهیـو کـبنـې ناست وو او پرخاش به ئې کاوۀ. هغه کادي او بادي دواړه وروڼه کم بختان له خپـلـو افـعـالـونـو هـمیشه له ما په اندیښنه کښې وو. په دا قبیله کښې به ئې همیشه دم جنبانې کوله. د هر یوۀ په مطلب به ئې د خبرې گرمي کوله مطلب دا چې خلق له دۀ آزرده شي. آدمي زاده واړه د دنیـا لـه مـقـصـوده خالي نۀ دي چې په څۀ کښې ئې مومي هغه پیشه کا. تر دا حده پـوره چـې دې مـا د وروڼـو سـره به ئې پټې جرگې وکړے چې دا وخت د بادشاه گردیدے. (۱) تاسو هم له فلانه څۀ وغواړئ. هغه هم به خپله نادانی په واړه قبیله وگرځیدل. د هر چا یو زوړ نوے مقصود په خاطر وۀ. ورته به ئې نوے کړ. له اول انشا به ئې دا وې چې فلانه عجبه ده چې دې تا مقصود دا دے لا تر اوسه نۀ دے روا شوے. خپل مقصود و هر چا ته خوږ دے. هغۀ بـه وې دې تـاسـو پـه تـوجـه سـعي به وشي. دۀ به ورته وئیل چې کۀ تۀ واکـ راکړے دې تا په مـقـصـود به زۀ له فلانه سره آزردگي هم وکړم. اما کۀ فلانه له ما آزرده شي تاسې مونږ ورته مۀ خوشـي کـوئ. بعضې په قبیله کښې مفسد د هغو مطلب دا چې پرېږده فلانه خنې آزرده شي. وروڼـه ئې دې یو تر بله خرابي کا. بعضو د خپل مقصود دپاره ورته وئیل چې څۀ خو بویه پټې مخفـي مـعـرکـې ئـې سره جوړولے. زۀ بې خبر تر دا حده چې خوږے ئې دې ما هم په دا ملمع کښـې ورسـره شامل کړ. دا خبره ظاهره شوه. هر چې پکښې قباحت فهم نیکـ خواه وو واړه راغـلـل. دا حال ئې ووې زۀ وپوهیدم چې دا چارې واړه د دغو بدبختو دي. وروڼه مې راوبلل چې تـاسـو له ما څۀ غواړئ نوے پیرز مطلب چې ئې بیان کړ نور مې ورته ووئیل چې زۀ حاکم یم. دې مـا پـه کـار غـرض مۀ لرئ. دغه دوه کم بخت کادي بادي مې پکښې مخصوص کړۀ وپوهیدل چې "چاه کن را راه درپیش است".

نگر نشنیدی از فراش این راه   که هر کوچه کند افتد دران چاه

نور هـسـې ویـره دهشـت ورپیـښ شـۀ چـې له خپلو جامو وترهیدل. لکه پیشو به هر کالۀ لره نـنـوتل. اخر هسې بانډه شول چې لار ئې د تیښتې نۀ مونده. یوه شپه په باران کښې [۳۲۴] په ډیر خفت فرصت ئې غنیمت وگاڼۀ بیری ئې د اټکـ د شیخ محمد فاضل په معرفت وغوښته. و اټکـ تـه ورسیـدل.. هـورتـه د مـحمد فاضل کره خزیده شول. څو مدت ئې په تمام خفت هورې تیر کړ. اخر الامر په ډیرې خوارئ ئې التجا وکړه چې نور مو توبه کۀ دا گناه مو معاف شي. ما هم په قول د دې فرد:

دشمن که به عذر شد زبانش ایمن مشو مرانش

زړهٔ مې له مسلمانانو سره صاف وهٔ لکه لوئي خان فرمائيلي دې رباعي:

مردان نن جنگ وکا آشتي سبا وکا چې سره کښيني صلح و صفا وکا

چې څو زړا وکا هومره خندا وکا څو ئې جفا وي هومره وفا وکا

علـر مې ئې قبول کړ له اټکه مې راوبلل په تمام دهشت راغلهٔ چې سرے مې ورستوهٔ صريح مې ورته ووې چې کهٔ راځې صفا رادرومې او کهٔ بيا فتنې کالې خراب به شې. اخر الامر چې راغلل. عربي : "العادة لا يزول الا بالموت (۱)" علت ورک شي عادت نهٔ ورکيږي (۲). بيا ئې پټ څرګند خواب سوال وهٔ د هر يوهٔ سره. اخر را مې وبلل چې بې عزت به ئې کړم. راغلهٔ په زارئ په انکار. هومره تلبيس ئې وکړ چې ورته حيران پاتو شوم. زر ئې اول د قرآن عظيم قسم وکـړ نـور انـواع انواع کارونه چې ګمان پرې هيڅ پاتو نهٔ شهٔ. ما ئې هم په سبب د قرآن عظيم چې قسم ئې وکړ روزينه مهينه چې ئې وه پوله پټې واړه مې ورکړهٔ. نور ئې هسې شان تقيه د روزګار واخسته چې هيڅرې د ګمان ځائے پاتو نهٔ شهٔ هميشه به ئې راته وئيل چې کهٔ بيا مو دې تاسو رفاقت پريښ دا ړيرې به د سپيو په غلو آلوده کړو. اما په باطن له اوله بتر وو. هر لور ته د فساد ګوش بر آواز وو. اخر الامر ناصر خان صوبه دار د کابل شهٔ. په نيابت د شهزاده رفيع القدر زهٔ هم په اخلاص قديم په سن زر سل دوه ويشت مخې لره ورغلم. په حسن ابدال د کالې په سرائ مې وليد (۳) چې ورسره راغلم. چې په نوښهر راغلو فوځ ئې و اشنغر ته واچاوهٔ. او د اشنغر عالم بدمست شوے وهٔ. جنګ ئې سره وکړ پرانګ چارسده ئې ووهل. ډير بند مالونه د مغلو په لاس کښيوتل. زهٔ په سرائ وم ناصر خان په اکبر پوره (۴) وهٔ وې بللم. اکثر بند مې د مهمندزيو خلاص کړهٔ. نواب ته مې عرض وکړ چې دې ما د ناموس خبره ده بند آزاد کړه. واړه ئې آزاد کړهٔ دوه مياشتې ناصر خان په اکبر پوره ناست وهٔ قلعه ئې د پرانګو په لب دريا سازه کړه. مصالح ئې پکښې واچول (۵) عالم ئې پکښې تعينات کړ. نور ښهر (۶) ته روان شهٔ. له ښهره (۱۶) ئې کوچ کابل ته وکړ. زر ئې هم له الوسات د دو آبې د غوريه خيلو ښهٔ وصول کړهٔ. چې ناصر خان کابل ته ورسيد ګماشته ئې د فوځ په معرفت د صديق چې د چارسدې ملک وهٔ د بارک شاه ځوے په تحصيل روان کړ. هورې د اشنغر عالمو اتفاق وکړ. يوسفزې ئې راوبلل په فوځ بادشاهي باندې وختل. رامات ئې کړهٔ. تمام فوځ ئې تر ګړى پورې د پرانګو ډوب کړ. مګر له زرو سورو پليو څلويښت کسه تر ګړى پورې څوک زخمې څوک روغ ورسيدل. د درست يوسفزې د مهمندزې لښکر يو ځائے جمع شهٔ. په ګړى پسې راغلل. دوه ورځې جنګ وشهٔ. د ګړى عالم ئې په تنګ ورساوهٔ. بې

اوبو وۀ امان ئې وغوښت.[۳۲۵] چې راووتل خوک ئې مړۀ کړل خوک ئې پرېښول. ګړی ئې مسمار کړه هم تالا ئې کړه. بادشاهي سلاح خانه، زغرې بختر توپ خانه جزائيل باروت خانه ډېر د پښتنو په لاس کښېوتل. د مغل زور نۀ وۀ په پېښور کښې پښتنو ته ئې کم قوتي معلومه شوه. معرکه ئې سره وکړه چې رادرومئ اوس په دې نور الوسات وګړخو اتفاق وکړو. د پښاور له ميانه ئې وباسو. اول ئې څو کسه په طريق د معرکې ماته راستول چې تۀ هم راسره اتفاق وکړه. ما ورته ووئيل چې زۀ نۀ د مغل رعيت يم نۀ د مغله باغي يم. او هيڅ مغل دې ما سره بد نۀ دي کړي. دې ما د مغل سره د بدی کوم عذر. تاسو دا نور اولسونه چې سره پرهېږئ د مغله سره خپل نيک و بد وکاندئ. دې ما په حد حدود غرض مۀ کانئ. دوې راته ووئيل چې مونږ به دې تا په حد حدود غرض نۀ لرو تۀ هم دې مونږ په حد حدود د مغل د ورانده دې مۀ کېږه. ما هم قبول کړه. دوې لښکر کښې وکړه په دوآبه راغلل. هغه عالم ئې ورسره ملۀ کړۀ. بيا د داؤدزيو په ګل بېله (۱) راغلل بيا ئې په ميچنی واړول. بيرې ئې د ګودرونو پۀ خپل دست کړے. د ښهر په عالمو زلزله شوه ګويا قيامت پرې نازل شۀ. د ناصر خان فرزندانو په ډېر الحاح ماته وکښل چې باوجود دې تا د ناصر خان د اخلاص نن ورځ چې ددۀ په ناموس کښې لګي تۀ را ونۀ رسے نور به کومه ورځ پکاريږے. اګر چې رضا مې هيڅ نۀ وه. د خرځ مرځ عذر مې وکړ. اووۀ زره روپۍ ئې هم راستولے نور مې عذر نۀ کېدۀ. د لښکره سره وررروان شوم. د شاه آباد و ګړی ته ورغلم بهرام چې په شرے کېرے کښې وۀ صدر خان ورسره دا هم د پښتنو و لښکر ته ورغے. کادي او بادي چې منافق وو وخت ئې موندلے وۀ و بهرام ته به ئې کښل چې دا لښکر په دا لور وروليږ. دا اولس واړه مونږ جوړ کړے دے. خو چې دې تاسو لښکر راشي يو فلانه به له ميانه ووځي. مونږ به واړه دې تاسو ملۀ شو. په ډېر الحاح به ئې ورته کښل. پښتون چې په ميچنی سره يو ځائے شۀ معرکه ئې و ښهر ته د پورې ونو وکړه. په شپه چې د ناصر خان کوررونه خبر شول زۀ ئې له شاه آباد شباشب وبللم. ورغلم پښتانۀ خبر شول. چې دے هم په ښهر ننوت. نور ئې سره معرکه وکړه چې د مغل سره درمدار بائده دے. لښکر د سرائ په طرف کړے بويه ما وته جاسوس خبر راوړ زۀ هم له پښاوره سرائ ته ورغلم. د دوې لښکر په خويشکو راغے معرکه ئې په يوه سرې په دوه سريو څو ځله راواستوله چې بويه تۀ څوک راستوے چې يو اتفاق سره وکړو. اما پښتون له هره تورکه ډېر تږول شۀ. مقصود ئې عالم دښمني هم پکښې وه. اعتبار مې نۀ شۀ. بل دا فکر مې هم وکړ چې پخوا اتفاق ونۀ شۀ اوس چې په ما لښکر دوې وکړ څۀ لازم دي. بل دا لښکر دوې دې ما د دښمن په رفاقت کا. نوښهر لره مې عبدالرحمن په طريق د جرګې ورستاوۀ چې بيرې

د نـوښهـر راکانړ. وې وئيل چې د پښتنو د لښکره ملاحظه کيږي او بيړی نهٔ در کوؤ. نور م
دا قبيـلـه اولـس سره جمع کړهٔ. معرکه مو وکړه چې اوس څهٔ فکر بائده دے. د سرایٔ قلعه هـ
پـه هـغه آوان شکست و ريخت وه. پخوا ئې فکر د [۳۲۶] سازولو ونهٔ شهٔ. دا مصلحت وش
چـې قبيـلـه اولـس د لـوړے غـرهٔ په سر سنګرونه وکا. مونږ په سمه ناست وو. هر چې د خدا
رضـا هسـې بـه وشـي. هـغـه کادي بادي بدبختان بل هغه د بهرام څوړے مکرم راخځه وو. اس
سـروپـایٔ روزينـه مـدارات هـر څـهٔ مـې کـړي وو. خـو چې دا معامله ئې وليده نور وخت ئې
بيـامـونـد. متل دے "نهٔ کانړے پوست شي نهٔ غليم دوست شي" زمونږ سره به ئې مصلحت وک
چې بيـرون بـه شـول کـښل بـه ئـې د پښتنو عالم ته تلهٔ. عالم به ئې بدراه کاوهٔ. مونږ هم پر
پـوهيدو د دوي په دم جنباني. اما ګمان مې نهٔ وهٔ چې دوي به دا هسې بې حيائي بې شرمي ک
اخـر چـې مـعـرکـه وشـوه هر چا قبيلې و لوړے غرهٔ ته رواني کړے. دے دوارړ د بهرام له څو
سره يو څو ناشدني وکړے. نامرد د نُورو چې د دوي په لور وهٔ د ميرنخيلو درګئے ته کړ. ما
سـرايـه کوچ وکړ په ولی چې څلور کروهه له سرايه تفاوت لري څلور کروهه او دري کروه
لـه نوښهره ديره ونيوه. مغل ته مې وکښل چې وخت د کومک دے راستوه. مغل له خپلې ک
قوتی بې دست و پايه وهٔ ملاحظه ئې کيده چې کهٔ زهٔ کومک ورشم دا بلا دې ما په سر ده.
دوي ورغله بيا به په ما راشي. دوي پښتانهٔ دي يو تر بله به وپوهيږي. اخر د تمام خښي لښک
په پوري نوښهر راغے او د تمام غوري لښکر په راپوري نوښهر ديره شهٔ. نوښهر ئې تمام وس
بـادشـاهي توپونه ئې وسول. يوه ورځ مې سواري وکړه ورغلم مقابله شوم. هسې شکست ب
تـمـام غـوري ګـډ شـهٔ چـې خود به خود ئې ماتې تر بهي پوري ولاړه. دا دواړه وروڼه منافق ب
لښکر راسره دي. د بهرام څوړے هم. اما په ورځ له مونږ سره په شپه د غليم سره. طعام چې
پـه سـفـره واشـهٔ تـر واړو به دوي په اشتها خوړ. او په مزه لاف به ئې د توري د تردد کاوهٔ. ب
شپـه بـه ئـې خـواب هـغـه لښـکر ته وهٔ. چې د فلانه سره څوک نشته. تاسو دا لښکر زر په د
رادرومئ. اخر د تمام پښتانهٔ لښکر په نوښهر سره يو ځائے شهٔ قريب د پينځهٔ شپږ زره سوار
پـه هـغه آوان پښتنو د مغلو اس هم ډير اولجه کړي وو. اويا اتيا زره پياده په ما راتلے نهٔ شول
په تمام وسواس ئې کوچ وکړ. په بادشاهي لارې و سرایٔ ته راغلهٔ چې دوي کوچ په بادشاه
لارې وکـړ مـا له ولی کوچ وکړ. د شيخ رحمکار قدس الله سره العزيز زيارت مې وکړ په هغ
لار د کـوه دامـن و دوؤ خلو ته راغلم چې له سرايه دري کروهه مفاصله لري. کډه مې د سرو
په ميله وه. يو ساعت په دوؤ خلو تير شهٔ.هغو بدبختو يعني کادي او بادي طعام راسره په تما
اشتها وخوړ. نور راځنې رخصت شول چې زمونږ کډه بې ځايه ده لوړے غرهٔ ته ئې کړو. زهٔ د

سـرور میـلـي تـه راغلم. دوي چې له ما ولاړ دي نور په هغه شپه د بهرام نحوست انجام څوړے ورسـره سراۍ ته ورغلل. په اوريدل د دوي ډيره بې حظي وشوه چې په دنيا کښې دا هسې بې وفائي بې حيائي هم شي. بيت:

اگر حلاوت اسلام در جهان اين است   هزار طعنه زند کفر بر مسلمانی

نور مې تمام اولس معرکه کړ ورته مې ووئيل چې په دا ځائے ناست اوسئ. که د سرور په ميله خـوک راپـانديږ راځي جنگ به کړو که نه وي د پښتنو گوډے لښکر دے خود به تفرقه شي. اخـر دا بـدبـختان چې ورغلۀ پښتنو تنگ کړۀ چې تاسو مونږ په اميد [۳۲۷] د زرو راوستلي وو اوس هـغـه زر څۀ شـول. غـرض په تنگ ئې ورسول. د ارتينو گانې کالي ئې راوړل ور ئې کـړۀ. امـا د پښتـنو په هغه د دې هومره لښکر څۀ کيدل. نور لښکر د پښتنو تفرقه کيدۀ دوي بـدبـخـتـان ورغـلـۀ ډيره په ډيره به ئې وئيل چې زمونږ مخ مۀ تورروئ تر فلانه پورې. دا د تاسو لښـکر خود دا هومره وۀ چې فلانه په درې کروهه له قبيلو سره ناست دے. اوس خو چې تاسو رجـاروځـئ زمونږ بنياد به وکاږي. هغو ورته ووئيل څۀ کړې بويه تاسې زر نۀ لرئ چې لښکر وسـاتـئ. پښتـانـۀ هـومـره قوت نۀ لري چې خپل خوري تاسې ساتي. دوي ورته ووئيل چې ښه هـومره وکانئ چې دا لښکر تر ولي پورې راسره ولاړ شي. فلانه به له هغه ځايه وخوځي او که نه اولس به د خونو د سولو په سبب رجوع شي له فلانه به جدا شي. يوه شپه په ولي راسره تيره کـانئ. نور له سرايه تللي نه له ولي تللي. اخر بعضي عالمو نۀ قبلوله بعضي مقر. درې حرامزاده لـکـه د هـمزه يوسفزي څوړے جمال يا د کپوري څوړے بهرام يو څو دا هسې مفسد نور ورسره روان شـول. دا نور لښکر هم ورسره روان شۀ. زمونږ جاسوس چې په غرۀ د دوؤ خلو ولاړ وۀ اشارت ئې وکړ چې لښکر راغے. زمونږ گمان هسې وشۀ چې لښکر مونږ لره د سرور ميلې ته رادرومي. اخـر الامـر تيـاري مې وکړه لښکر مو اراسته کړ. قبيلې چې دې ما د سرور په ميله وړے خـاورې تـه مـې رواني کړے. لښکر چې د دوي په ولي راغے دا دې ما لښکر و جنگ ته بې استقلال شۀ. واړو راته ووې چې په مونږ حکم کړه چې په ولي جنگ وکړو. ما ورته ووې چې هغه لښکر ډير دے. اويا اتيا زره عالم دے. څو اولسه سره يو ځائے شوي دي زمونږ عالم هـم اکثـر پـه کډو په سنګر دے. دې ما سره که تاسې ډير عالم وئ پلي سوارۀ تر زرو کسو به وئ. دا کـوم مـنـاسب دي چې تاسو په دا هومره لښکر باندې ځئ. آخر چې ډيره مباحثه په دا بـاب وشوه. ځني هلکان ناکرده کار وو. زۀ ئې په ځائے پريښوم دوي پلي سوارۀ راځنې روان شـول. ځنه فهميده سرې وو هغه مې پسې واستول اما نۀ منع کيدل. توپخانه شترنال چې څۀ د جنگ مصالح وو واړه ما ځخه پاتو شول. دوي ورغلل پلي ئې په شاهي خيلو د شيخ رحمکار

قـدس الله سره العزيز د زيارت څخه پريښودل. سوارهٔ ورغلل په ولي ئې خان ښكاره كړ. هغه لښكر ملا تړلے ناست وهٔ. چې دا سوارهٔ ئې وليدل نغاره ئې وكړه ښښانونه ئې پسې راواخستل پسې رارروان شول. هومره عالم له ديرې له هغه لښكره راووت چې تر دوؤ خلو پورې او د شيخ رحمكار تر مزاره پورې چې دوه دوه نيم كروهه مفاصله لرې فوځونه فوځونه وو چې د لښكر د زوره ئې زمكه ليدے نهٔ شوه. دا زمونږ سوارهٔ پکښې ورک وو. ابيات:

نه شمشیر کین آوران کند بود | که کین آوری ز اختر تند بود
کس لشکر ما زیجا برون | نیامد جز آغشته خفتان بخون
چو صد مجموعه در خوشه | فتادیم یک یک بهر گوشه

هـر لـور ته چې به دوې د جنگ مقابله وكړه بيا به بل لور ته تر دوې فوځونه تير شوې وو. په دا رنگ جـنـگ كنان د شيخ په مزار راغلل دغه ځائے پياده عالم چې په شابې خيلو كښې وو ښـهٔ استـقـامت ئې د جنگ د تيرو د تفنگ وكړ. ډير عالم ئې د غليم د لوريه زخمي او كشتا كـړهٔ. د دوؤ خلو د لوريه د غليم عالم[۳۲۸] په سر كوبونو چې بې شماره وو راوخوت. ناچا دا زمـونـږ پياده ئې له ځايه وخوځول قريب تر شلو پينځهٔ ويشتو پلي سوارهٔ زمونږ د لښكره په درجه د شهادت ورسيدل. يو ازان جمله شير د عابد خان ځوے وهٔ. يو ملک شاه مراد ځينے افـريـن بـاد د دې دواړو پـه تـردد پـه اخـلاص پـه راستـي كـښـې شهيدان شول. يو ځو ښهٔ ښه سپاهيـان نـور هم زمونږ چې پريوتل اسونه ئې لاړل دوې په خپل تلاش په تردد خلاص شول زمونږ لښكر تر ما پورې راغے. د هغو د لښكرو د سر ښښانونه هم نمايان شول. د پيتاؤ په كلي ئـې اور ولـګاوهٔ. ما سره عالم كم وهٔ. دا عالم چې جنگ ئې كړے راغلي وو بې دمه شوې وو پـوهيـدم چـې بيـا بـه تـلاش د تـردد ترې په واقعي ونهٔ شي. د خپل لښكر د استقامت دپاره د سرور په ميله يو دم له اسه كوز شوم په خيمو باندې كښيناستم چې دا خلق مې واړه راغے سر تـول شهٔ څهٔ خيمې څهٔ جزوي اسباب په هغه ځائے وهٔ هر چې د ليږدولو وهٔ حكم مې وكړ چې وې ليـږدوئ. هـر چـې د وړو نـهٔ وهٔ هـغـه مـې خښكو ته ووې چې تالا ئې كړئ. كدې زمونږ عـالمو چې په وتل د غليم د لښكر د سرايه ايستے وے د شاهي تر ميلې ورغلے وے. چې ئې د د جـنگ هـنـګـامـه واوريـدهٔ شـوه د خاورې په غابنې وختے. د خاورې و ميلې ته ورپريوتے مـابـنـام مـونږ هم پسې ورغلو. په خاطر راغلل پښتنو دا د خرهٔ لگې نيولے ده كهٔ ئې مونږ پسـ تيـنـګـه وو تـروغـبـث زيان دے سره كيږي. بهتر دا دې چې دا وخت خان كناره كړے بويه بـ تـوښـې عـالـم د هـره هـره فـريـقه تر كومه به ناست وي. اولس ته مې هم اشارت وكړ. چې د دارمـدار ورسـره وكـانـئ چـې دوې وجـاروخـي. نـور مـې لـه خاورې شباشب كډه روانه كړ

نظامپور ته ورغلم په نظامپور نورو د سرای بیری پیشگي د گل فقیر په میله ودرولے وے تر سیندہ و نیلاب ته پورې شوم. په یوه شپه زر کوره کم و زیات دي ما سره نیلاب ته پورې شول. نور اولس هم راپسي پورې ووت. منع مې کړ چې زهٔ په یو مصلحت راپورې شوے یم. تاسې په ځائے پراتهٔ اوسئ. وګورئ نن څهٔ شي سبا څهٔ شي. زهٔ چې په ګړی د جعفر نیلابي ورغلم په هغه ورځ د نواب ناصر خان کښل له جلال آباده راغلل او ځوې ئې هم له پېښوره کښلي وو چې نواب په جلال آباد راغے. په طریق د ایلغار راځي دا واقعه ئې دې تا سره د جنګ واوریدهٔ شوه. کهٔ دورې دې تا له لاسه څهٔ تردد شي صرفه مهٔ کړه او کهٔ نهٔ تهٔ په ایلغار پښاور ته راورسه. بېکاره ناست مهٔ اوسه چې سره یو ځائے شو فکر به د غلیم د دیه لوریه کړو. ما ورته وکښل چې خاطر جمع لره زهٔ د دې لوریه د کاره غافل نهٔ یم. انشاء الله تعالیٰ نن سبا به د غلیم احوال درته ښکاره شي. څو زهٔ دلي ځني کارونه وکړم. هومره زهٔ درتلونے نهٔ یم. دې ما اولس هم څو کسه په طریق د جرګې بهرام ته ورستول چې کهٔ تهٔ زمونږ نه د رفاقت طمع لرے تهٔ دا لښکر د پښتنو رخصت کا چې درومي. هرګاه چې دا لښکر لاړ شي به مونږ باندې لکه تهٔ هسې فلانه. نور مونږ به راشو ملګري به دې تا وکړو. او ګنه څو دا لښکر په ځائے میشت دے لاس دې تا لاس زمونږ. هغو هم دا عذر غنیمت وشمارهٔ. [۳۲۹] لښکر وړې شوے وهٔ دېاسه خبر د صوبه دار د راتلو پرې وشهٔ. لښکر پورې شهٔ غوریه خیلو په دې نورو پښتنو لاس ولګوهٔ چې مونږ تاسو سره ملګري تر سرایه وکړه اوس زمونږ په سر د مغل لښکر راغے تهٔ دې ما سره دا ټول لښکر پښاور ته څه. د پښتنو لښکر وهٔ چې یو ځل تفرقه شهٔ نور بیا ټول چرته. د جزوي عالم سره جمال د حمزه (۱) پښاور ته روان شهٔ. بهرام ته ئې په صلاح دوه سوه سوارهٔ پرېښول. لار او ګودر د اټک په دا کشمکش بند وهٔ؛ بهرام له هغو څهٔ ملاحده ؤ سره په بندوبست د لارې د ګودر و خیر آباد ته روان شهٔ. دا خرابي او بې ننګي ئې چې د لاسه وشوه هسې پرې باندې خوښ وهٔ چې سندره به ئې بلله او تعریف به ئې په سندره کښې د جمال د حمزه (۱ الف) د ځوې نرو ښځو کاوهٔ او دا سندره به ئې وئیله:

د خدائ رحمت په جمال خان شه　　　فلانه (۲) ئې وارووژ تر لویو لویو غرونو

زهٔ چې په ګړی د نیلاب ورغلم درد مې په تښې کښې په سبب د ریګ مثانې وشهٔ. ډیر آزار راباندې تیر شهٔ. تر ګړی پورې په دا محنت کښې چې چا وفاداري وکړه او راسره ئې رفاقت وکړ آسامي د نور عالم ټول مومي اما د قبیلې د عالمو آسامي وشوه. هر چې بمع عیال او اولاد او قبائل دې ما سره وو دا دي. نامدار خان وررور د عبدالله، محمد خان، سیف الله خان، سعید خان، خالد خان د ځامنو سره، عبدالله خان، یحییٰ خان، ظفر خان له فرزندانو سره،

گوهر خان له فرزندانو سره، نجابت خان د ځويو سره، ابوالخير د خامنو سره، نصرت خان د ځوي سره، امان الله حسن خان د کمال خان صالح محمد د کمال خان، همت خان او محمد شرف د عجب خان جلال الدين د سکندر خان، عبدالرحيم د عبدالرحمٰن، ابراهيم د ځوي سره، عبدالرحمٰن د خامنو سره، رستم د ځوي سره، رحمت خان په جال وۀ چې دا واقعه ئې واوريده راروان شۀ راغے شريک د رنځ شۀ. ښۀ خدمت ئې وکړ. يحيیٰ خان له مونږ په سبب د کور د بيمارۍ د ګرنګ په سر پاتو شوے وۀ. هغه بدبخت بادي ورلره بهرام راستوۀ چې رادرومه اما دے نۀ ورتۀ. په هغه سبا بل سبا راپسې وليښ. نظامپور ته راغے. يو جانو د فريد کمالزي ځوے يو جيوڼ رخړ دواړه راسره وو. په دا واړه جنګ محنت ئې ښۀ ملګرې وکړ آفرين باد. د نورو واړو نام نويسي طول ځکوي ځکه مې ونۀ کښه. اخر الامر د اولس خوابونه هم راغلل چې وخت دے دښمنان په پنجره کښيوتلي دي زۀ په ځان آزار وم هومره فرصت مې نۀ وۀ چې په پالکۍ کښې کښيناستے. نامدار خان او دا د کلو عالم مې واړه وبالۀ ورته مې ووئيل چې وخت له لاسه خطا نۀ کړے بويه. واړو ووئيل چې هر چې دې تا رضا. بيرې مې واړه وغوښتے. د کهو په ګودر کښې مې ودرولے. ورته مې ووئيل چې درومئ په ګودر پورې شئ. شبګير وکانئ. د څور پانۍ په لار د خير آباد د عيدګاه د لوريه شئ سحر پرې ځان خرګند کانئ چې يو تن زنده پاتو نۀ شي. دوي راته ووئيل چې کۀ په دا لار پرې ورشو اولس به نندارچي پاتو شي. او له مونږه به ګيله هم وکا. د سونيالي په غابنې به ورکوز شو. د سپين کانې په لار به اولس د وړاندې د ګيدړ ګلي په لار به پرې ورشو. انشاء الله تعالي يو کس به ترې زنده پاتو نۀ شي. ما هم قبوله کړه. [٣٣٠] نمازديګر مې تمام عالم پورې کړ شباشب پ تاريکه شپه د سونيالي په غابنې ورکوز شول و سپين کاني ته ورسيدل. اولس هم منتظر د دوي ورتلو ته ناست وۀ خو چې دا فوځ ورغے پردل شۀ. دا عالم چې دې ما پورې شۀ هغه شپ دې ما درد د تهي ګاه لا زيات وۀ. ناقراره وم هم څوک راځخه نۀ وو. وسواس مې د څوک ډير وۀ غليم په قابو وۀ. نيمه شپه يو کم بخت د ابراهيم ځوے محتشم چې له مونږ تښے بهرا ته لاړ وۀ د بهرام کار ئې خام وليد. له هغۀ وتښ په اټک کښې وۀ. د دۀ حرامزادګي درو بازي کۀ وکښم يو بل کتاب بويه. له اټکه راغے په نيمه شپه د اس اواز وشۀ. څوکيدار پ تشويش شول اواز ئې وکړ چې څوک ئ. دۀ ورته ووئيل چې محتشم يم. ما دا اواز واوري وپوهيدم چې دا کم بخت راغلے دے په دا وخت خالي د بدی نۀ دے. په هغه هسې ازا کښې مې ملا وتړله راووتم. سردار د عبدالرحمٰن ځوے حاضر وۀ ورته مې ووې چې پاس ورشه دا بدبخت له اسه کوز کړه دست بسته ئې راوله. کۀ عذر وکا سر ئې راوړه.

سـردار ورغـے تـر ساعت ئې دست بسته راوسـت. نـور مې دے د مسجد په حجره واچوۀ. څو کـی خبـرداري مـې پرې وکړه. سبا بهرام ته په خیر آباد جاسوس خبر ورساوۀ چې لښکر دربـانـدې راغـے. نـمـازپښین وخت وۀ هر څۀ سره ئې په ځائے پریښول پاخۀ طعامونه ئې پاتو شول. بې معطلې ګریزان شۀ زمونږ لښکر راغـے په سرائ ئې وارول. دے د خپلو اعوانانو سره په نـرۍ پـه شیـدو تر سینده پورې ووت. هسې تلوار د پورې کیدو په بیړیو پرې ولګیده چې خـوې ئـې او صدر خان وار بیا نۀ موند. صدیق مهمندزے بعضې د یوسفزیو سوارۀ په بادشاهي لارې لاړل. پـه نـوښهر پورې وتل. ماته هم الله تعالیٰ شفا راکړه. هغه درد مې قلار شۀ. سبا مې خـان پـه پـالـکی کښې واچوۀ تر سینده راپورې شوم. په سلخ د شعبان خیر آباد ته راغلم خبر شـوم چـې عـابـد خان د هغه بدبخت خویه سره چې دے هم په شامت د هغۀ ګمراه شوے وۀ دا هومـره بـد ئـې د لاسه شوې بې ننګي او بې شرمي هغه خوے چې ئې د دې لوریه مړ وۀ په هغه وسیـلـه ئـې خـان لـه هغو پاتو کړے وۀ په کټې میله کښې ناست وۀ. همایون او اکبر د سعادت خـان خـامن هم په سبب د هغو ګمراهو چې ګمراه شوې وو ورځنې په شیدو کښې پاتو شول. ویـوهیـدل چـې قبـاحـت مو له لاسه شوے دے له شیدو دې ما په لور و ګړی ته روان شول چې ببرو تـه کـوز شول خبر شول چې دے خیر آباد ته لاړ دے. نمازخفتن خیر آباد ته راغلل. هغه وخـت راتـه حـاضر شول. عذر ئې د خپل تقصیر وغوښت. اګر چې سزاوار د ډیر تنبیه وو اما اس او وسـله مې ځنې واخستل نور مې په خیر آباد کښې نګاه کړۀ. په شپه مې سرے سرائ ته واستـوۀ د سـرائ لښـکـر مـې هـم نـرۍ ته راوبالۀ. سبا ما هم له خیر آباده کوچ وکړ. د سرائ لښکر هم راغـے. د ولیو (۱) پـه لښتي سره یو ځائے شو و کټي میلې ته مې عابد خان ته خواب واستـوۀ چـې دا خوے دې دست بسته راستوه او کۀ نۀ وې دواړه په خاک سیاه شئ. څۀ عذر ئې وکړ چې بتیه خیل دې راشي. یعنې مجاهد خان چې د دوی په لاس ئې ورکړم محمد خانْ تـه مـې د تـوپ خـانـې سـره حـکـم وکړ چې ورشه دواړه والوزوه. اخر هغه بدبخت خوے ملا پـرانتـې پـه تیښته راغـے. یو ځل په خاطر راغلل چې حکم وکړه چې پاره پاره ئې کا. اما وررور ئـې چـې پـه خـدمت کښې مړ وۀ یو دوه وررونه ئې هم راسره وو مروت مې نۀ ګاڼۀ چې دے هم ومـرې. نـور مې له ماله حاله د پلاره ورسره کړۀ د اټک تر سینده مې پورې کړ. یو څو د فقیر جـمـیـل بیګ خامن چې هغو ګمراهو ګمراه کړې وو د هغو په خونو مې اور پورې کړ. خاک سیـاه مـې کـړے. بیا مې په شیدو حکم وکړ د کادې د بادې حویلې باغات چې څۀ وو واړه مې خـاک سیـاه کـړۀ. مـالـونـه اسبـابونه غلې چې څۀ وے واړه مې په اولس تالا کړے. د جلبی د جهـانـګیـرې عالمو وریـسې لوړ واخستل و یوسفزیو ته ئې وشړل. کورمې د فقیر جمیل بیګ

په چشمی (۱) وړے خني پاتو شوے هغه ئي په بدحال ورپسې رواني کړے. هسې حال ورپېښ شۀ چې عبرت د خلقو وشۀ. بيت:

بيندیش اے حکیم از کار ایام
کہ پاداش عمل یابی سرانجام
کہ کرد کہ نیافت و کہ کشت کہ نہ درود

اخر مونږ په فتح په فيروزی قبيلي و خير آباد ته راوستے. نواب ناصر خان هم جمرود ته راغے. غوريه خيلو د همزه خوے څۀ تېتوبه ورته وکړه. اما زور ئي نۀ ليد. لښکر ئي تفرقه شۀ. جمال د همزه دوآبې ته لاړ. هورې ئي څۀ مفسده برپا کړه. مغل پرې وخوت. عنايت امازے يو څو يوسفزي ئي مړۀ کړۀ دے په تيښته خني لاړ. نواب زۀ هم د استمالې دپاره وبللم. څو مياشتې په سبب د ګيله مندی ورنۀ رغلم. بيا ئي په ډير الحاح په سن زر سل درويشت وبللم. ورغلم اس او دوه خلعته ئي راکړۀ رخصت ئي کړم کور ته راغلم.

ذکر د ميرويس غلجي

په اصل اوتک (۲) دے په اطراف او جوانب د قندهار اولسونه د پښتنو لکه اودل او غلجي او ترين ميشته دي. د ايران د بادشاه د لوريه يوه واجبي په ديو الوسات مقرر شته. د قندهار صوبه دار ئي له دوي نه اخلي قديم الايام اربابې په اولس کښې د اودلو ده د خدکي سلطان(۳) په کالۀ کښې. هر ګاه چې ارباب د اودلو مستقل وۀ او اولس د اودلو زوررور وۀ دے نورو الوساتو د پښتنو به عمل و ايراني (۴) ته په واقعي ورکاوۀ. هغه چارې چې حق تعالیٰ ورانې ته پېښوي حکامو وته رهنموني د غير قانون او د غير دستور وښيي. د خدکي سلطان سره د قندهار صوبه دار مخالف شۀ. او سبب ئي د مخالفت دا وۀ چې خدائ تعالیٰ دۀ ته هسې تعصب د دين ورکړے وۀ او زوررور هم وۀ چې ايرانيو به مخالف وويل د صوبه دار په دربار کښې به ئي مړۀ کړۀ. دا واقعه د ايران و بادشاه ته لاړه. حکم د ايران د بادشاه په صوبه دار راغے چې خدکے سلطان مړ کانئ. په فريب ئي وبالۀ چې مهم د بلوڅو سره پېښ دے مصلحت کړے بويه. صوبه دار ته ورغے بالبنت ئي د دۀ په خلۀ کښېښ خفه ئي کړ. مړ ئي کړ. بيا د دۀ له خاندانه (۵) تربور ئي وۀ هغه ئي سلطان کړ. د دۀ مشر خوے وۀ قلندر سلطان نوميد هندوستان ته لاړ. ډير مدت ئي په نوکری د بادشاهزاده داراشکوه تير کړ. هغه صوبه دار د قندهار ومړ. بل ئي په ځائے صوبه دار شۀ. دا د سلطان خدکي په ځائے چې سلطان شوے وۀ د دۀ له لاسه بندوبست نۀ کيدۀ. قلندر سلطان چې خبر شۀ چې هغه صوبه دار مړ شۀ او د دۀ له لاسه بندوبست نۀ کيږي راروان شۀ وطن ته راغے. ملازمت ئي د صوبه دار وکړ. دا

واقعه ئې بادشاه ته د ایران وکښه. چې قلندر سلطان راغې د دهٔ په باب څهٔ حکم دے بادشاه په حضور وبالهٔ ډیره مهرباني ئې پرې وکړه. فرمان ئې د سلطاني او خلعتونه ئې ورکړهٔ.[۳۳۲] رخصت ئې کړ وطن ته راغے. ډیر مدت ئې سلطاني دلته وکړه. ښهٔ بندوبست ئې وکړ. صوبه دار هم بیا په یوهٔ سبب د دهٔ سره کاوش واخست یو تربور ئې وهٔ د دهٔ عرض کوئ هغه ئې وپوښتید چې د دهٔ څهٔ فکر بویه. د دهٔ پخپله لُور ده هغه ورځنې وغواړه کهٔ دا ئې قبوله کړه بهتر او کهٔ نه عذر به دې ورته جوړ شي. قلندر سلطان ئې وبالهٔ. دا حقیقت ئې ورته ووې. دهٔ قبوله نهٔ کړه. نور ئې په قید کړ. یوه شپه ئې له قیده وبالهٔ. ورته ئې ووې چې دا امر چې ما وئیلے دے شونے دے کهٔ نه. دهٔ ورته ووې دا کار شونے نهٔ دے نور هر چې دې تا رضا. صوبه دار شراب څښلي ناست وهٔ. توره ورڅخه پرته وه پخپله ئې په توره وواههٔ مړ ئې کړ. دا واقعه د ایران بادشاه ته لاړه. صوبه دار ئې په حضور طلب کړ چې حضور ته ورغے بادشاه ورته ووې چې سلطان قلندر دې په څهٔ مړ کړ. له څوابه له هیبته پاتو شهٔ. آدم خوارهٔ سپي د بادشاه په سرکار کښې وو په هغو سپو ئې مات کړ. د قلندر سلطان بل ورور وهٔ هغه بادشاه حضور ته وبالهٔ. د قلندر سلطان مراتب ئې هغهٔ ته ورکړ. کور ته ئې رخصت کړ سلطاني ئې ورکړه. د دهٔ کشر ورور وهٔ حیات سلطان نومید. د وروره سره به چې ښکار ته روان شهٔ ورور به ئې نهٔ پریښې چې دې تا وخت د علم د کتاب دے. ښکار مهٔ کوه به ما پسې راځه. یوه ورځ ئې حکم مات کړ ورور پسې په ښکار روان شهٔ چې وې لید ورته وقهرید پستنه ئې وجاریوست. حیات سلطان د اوباشو سره مصلحت وکړ چې ما دے خپل عیش ته نهٔ پریږدي. راځئ چې مړ ئې کړو. هغه اوباش او حیات سلطان ورپسې سوارهٔ شول دهٔ شاهین په کلنګ پسې اچولے وهٔ کلنګ ئې نیولے وهٔ او د شاهین د سیرونې دپاره کوز شوے وهٔ سوارهٔ ورڅخه پستنه ولاړ وو. حیات سلطان ورغے دهٔ ورته ووې چې څهٔ لره راغلے اس ئې پرې وزغلاوهٔ شور ئې کړ. هغو نورو اوباشو وواههٔ مړ ئې کړ. دا واقعه بادشاه ته لاړه. بادشاه حیات سلطان په حضور وبالهٔ عرض وشهٔ چې حیات سلطان چې قاتل د ورور دے راغے حکم ئې د قید وشهٔ. قید ئې کړ. شپږ کاله په قید کښې پروت وهٔ. هسې سبب خدائ پیښ کړ چې قافله د ایران له ډیره ماله متاعه سره هندوستان ته روانه شوه. کاکړ لوے اولس دے چې په حد د دوي قافله ورغله تاخت و تاراج ئې کړه. دا واقعه بادشاه له ورغله بادشاه امر وکړ چې څوک شته چې د دوي علاج وکا. عرض وشهٔ چې علاج د دوي قدیم الایام په سلطان د اودلو دے. سلطان مړ دے او ورور ئې په قید دے. حکم ئې وکړ چې حاضر ئې کانئ. حیات سلطان ته بادشاه ووې چې د دې واقعې تدارک تلافي څرنګ کړے بویه. حیات سلطان عرض وکړ چې په اقبال د بادشاه اسان کار

دے. سلطاني ئې ور کړه په مهم ئې د دوي رخصت کړهٔ. هغه قاتلان چې د دهٔ سره د دهٔ ورور ئې مړ کړے وهٔ هغه ئې مړهٔ کړهٔ چې تاسو په دې مصلحت دې ما سره اتفاق ولې کاوهٔ. لښکر ئې پسې وکړ مهم ئې دکاکړو وکړ. ډیر کاکړ ئې مړهٔ تاخت و تاراج ئې کړهٔ. مال و متاع ئې د سوداګرو ډیر وصول کړهٔ. خپله سلطاني ئې کوله. پس له هغه ئې د قندهار دٔ صوبه دار سره کاوش وشهٔ. دري امراګانو ته صوبه دار د حیات سلطان په مهم حکم وکړ (۱) جنګ ئې سره وکړو ایراني ئې مات کړهٔ. دري واړه [۳۴۳] امراګان ئې مړهٔ کړهٔ نور خانه کوچ روان شهٔ. دري زره کوره ورسره ملتان ته لاړ شهٔ. له ملتانه اورنګزیب بادشاه ته لاړ شهٔ. عرض ئې وکړ چې کهٔ قندهار بکار دے په اقبال د بادشاه اخستل ئې اسان دي. بادشاه پانصدي منصب ورکړ چې ملتان ته ورځه. دا مهم کړونے دے. اورنګزیب په نورو مهمونو پاتو شهٔ. دے تر اوسه په ملتان کښې ناست دے خپل منصب خوري. د قندهار صوبه دار میرویس چې په اصل غلجے په غلجیو کښې اوتک دے په سرداری ئې هسک کړ د ایران بادشاه ته ئې سفارش د دهٔ وکښهٔ. ور ئې ستاوهٔ. بادشاه فرمان د سرداری ورکړ رارخصت ئې کړ. څو مدت ئې سرداري وکړه. بیا د قندهار صوبه دار خفه آزرده شهٔ. شکوه ئې بادشاه ته وکښه بادشاه په حضور وبالهٔ څو مدت بادشاه څخه وهٔ تقاضا ئې د رخصت درله. اما رخصت ئې نهٔ ورکاوهٔ. د بیت الله رخصت ئې خفه وغوښت. رخصت ئې کړ. بیت الله ته لاړ. د هغه نه چې راوجاروت. په سپاهان (۱) راغے اما بادشاه ئې ونهٔ لید هم بې خبره راروان شهٔ. غلجیو ته راغے. سرداري ئې خپله کړه. اما د ایرانیو (۲) نه په وسواس وهٔ. په قندهار کښې شهنواز خان ګرجي صوبه دار وهٔ. دوه فریقه متعینه په قندهار کښې وو. ګرجي بل قزلباش. نقل کاندي چې شهنواز خان او هغه فریق د ګرجیانو چې ورسره وهٔ ډیر ظلم او تعدي به ئې هم په قزلباشو هم په پښتنو کړه، شهنواز خان ته مهم د بلوڅو ورپیښ شهٔ فوځ ئې خپل په مهم د بلوڅو واستوهٔ. خود ئې له قندهاره مدد له میر ویس د غلجیو وغوښت. میرویس له غلجیو سره معرکه وکړه بلکې د قندهار قزلباش هم په معرکه ورسره چې وخت دے د پرېښو نهٔ دے. لښکر د غلجیو د میرویس سره قندهار ته راغے. نور میرویس شهنواز خان ته خواب واستوهٔ چې اوس تهٔ هم راوځه. لښکر د شهنواز خان اکثر په مهم د بلوڅو لاړ وهٔ. د لیره جمعیته سره ورته راووت. شهنواز خان ئې مړ کړ هله ئې په قندهار وکړه څهٔ لږ ډیر غلجے په هومره هله کښې پریوت نور ئې قندهار واخست. دري زره ګرجي ئې په قندهار کښې مړهٔ کړهٔ. او هر چې ترک او قزلباش په قندهار کښې وو. هغو ته ئې امان ورکړ. هغه لښکر چې شهنواز خان په مهم د بلوڅو استولے وهٔ چې له دې واقعې خبر شهٔ وجارووت اما زور ئې پرې نهٔ لید د مشهد او د

هرات و لور ته لاړ. هر چې په قندهار کښې مال او خزانه وه واړه د میرویس په لاس راغله. د شهنواز خان د کورمې سره ئې سرې کړۀ رخصت ئې کړه هر چې د قندهار قزلباش وو امان ئې ورکړ. هغه ئې د دۀ د کورمو سره رخصت کړۀ. اورنګزیب په هندوستان کښې چې دا واقعه کیده وفات وۀ. بهادر شاه په تخت ناست وۀ. ورارۀ ئې د سوغات سره بهادر شاه واستوۀ. په سرهند ئې ملازمت وکړ. د اسم دهاره ئې سه هزاري منصب د دۀ ورارۀ ته ورکړ. او پنجهزاري میرویس ته. حکم ئې وکړ چې قندهار دې حواله هم په دۀ وي. دې ما سکه او خطبه دې پکښې ولولي. (۳) دوه درې [۳۳۴] خله د ایران عظیم فوځونه چې دیرش دیرش څلویښت څلویښت زره سوارۀ وو د لویو امراګانو سره لکه خسرو خان وغیره پرې باندې راغلۀ شکست ئې ورکړ. ډیر عالم ئې قتل کړ. او ډیر غنائم ئې په لاس راغلۀ تر دا تاریخ چې سن زر سل څلیریشت (۱) دے. په قندهار ناست خپل حکومت او سرداري کا توفیق ئې رفیق شه ښۀ پښتون دے. (۲)

مقدمه د جمال

پس له فوته د اورنګزیب بادشاه جمال مهمند او بعضې ظاهربین کوته اندیش ورسره سر په شورش پورته کړے وۀ. په مهمند کښې موسیزے وۀ او موسیزے په مهمندو کښې کمزورې تپه ده. غرض ئې دا وۀ چې په دا شورش کښې به دې ما نامه ناموس وشي. اربابي به بیاموم. په دا میان کښې ډیر افراط تفریط ورځخه وشۀ هر ګاه چې په سن زر سل دوه ویشت صوبه داري د دارالملک کابل په نامه د ناصر خان شوه پښاور ته راغے. اربابي ئې ورکړه. اما د دۀ ناکردې چې پخوا د ناصر خان تر سرداری یا په صوبه داری کښې ئې د ناصر خان کړے وے د ناصر خان په خاطر وے. په خپلې اربابی کښې ئې کلے د عیسیٰ مهمند هم وواهۀ. (۳) په تل ئې خاتنه وکړه. عیسیٰ مهمند په خپل خیل کښې زورور دے جوړه ئې د ناصر خان سره وکړه د مغل ویرانی کښې د پښتانۀ خپله مدعا ده مصرعه:

بهر طرف که شود کشته سود اسلام است

په دا میان کښې د جمال د خوي د وادۀ کار پیښ شۀ. ناصر خان دوه زره روپی هم په طریق د انعام ورکړے. نور عیسیٰ په توم د مغل جر ئې ورپسې کړ. هغه شپه چې ئې د خوي وادۀ وۀ د لښکره سره ورروان شۀ په کور ئې ورغے جمال له دې هسې آفته غافل وۀ مخې ته ورووت. تاب ئې د جنګ رانۀ وړ زخمي کور ته ننوت. عیسیٰ ئې په کور اور پورې کړ پکښې وسۀ. اتیا کسه نر ښځې وړکي هلکان د وادۀ هم په هغه کور کښې ورسره وسول. دا واقعه په سن زر سل درویشت وه. خدای دې له دې هسې آفته امان وکا. (۴)

پـه سـن زر سـل څـلـيريشـت بهرام نحوست انجام چې په نوبنهر کبني به حال سگ گـرسنه پروت په همې حال ورغلے وه چې ارتينو به ئې پردی څرخې وکړے په مزدوری چې څهٔ بـه ئـې حـاصـل شول قوت گزاره به ئې کړه. او د سترو کورونو به ئې اوبهٔ له دريابه په سر راوړے. هـغـه بـدبـخـتـان کـادي او بادي د نوبنهريو خوريونو بدراه کړ چې عبث ناست ئې په نـوبنهر کبنې څهٔ لره. بهرحال ناصر خان لره ورشه گوندې دې يو کار وشي. کهٔ نهٔ وي دې تا پـه تـلـل کبنـې به فلانه له مغله نااعتبار شي. اما د دوي مطلب دا وهٔ چې بهرام مغل لره لاړ شي مـونږ به ځنې خلاص شو و هل بازار به مو گرم شي. فلانه به مونږ وبولي. دلې ما لره ئې يو خط مشتـمـل پـه ډيـره دولـت خـواهـي او علـر د خپل تقصيرات کبنلے راستولے وهٔ چې کهٔ مونږ دروبـولے يو ملا ئې راستولے وهٔ. او د بهرام د تلو ئې هم مغل ته اشارت کړے وهٔ. ما د هغه خط په خواب کبنې دا دوه درې بيته چې هغه ساعت مې له طبيعته ايجاد شوي وو ورته کبنلي وو. ابيات:

کـاروبـار مـو هـمگي راتـه عيـان دے	و عيـان تـه څهٔ حـاجـت د بل بيان دے
سيـلابـونـه د خـلاف شـول وبلـه جمع	بيا لنډے د آب سيند غوندې روان دے
آئينـه چـې لـه زنگـاره مـصفيٰ وي	کـهٔ زنـگـي مخ په کافور کا نمايان دے

چې هـغـه ملا نوبنهر لره ورتهٔ هغه کشر ئې بيا له بهرام سره پبنناور ته لاړ وهٔ. هغه مشر ئې دې منصوبې ته پريښے وهٔ. ملا آدم چې ورغے دے ئې بيا نهٔ موند. دا بيت ئې راته وکبنهٔ. بيت:

تـوکـل پـه خـدائ عـزيـز دے	دروغـژن سـړے خـو حيـز دے

څـو ورځـې چې پـه پبنناور تيرې شوے بهرام چې په هغه طمع ورغلے وهٔ مغل وليدل چې قبيله اولـس لـه فـلانـه سـره جوړ دے. کهٔ څه د بهرام لوړے کوم فساد به وشي. او د بهرام ناستے ما شـخـه سبب د فلانه د بې دلى او آزردگى دے. يوه رکابى طعام ئې ورته راستوهٔ. هغه بدبختان چـې ورسـره ولاړ وو ځـنـې راوتبنـل. بهـرام ئې هورې پريبنى. په هغو څو ورځو کبنې په سن مـذکـور خبر د بهادر شاه د فوت له لاهوره راغے (۱) نـاصـر خـان په خپل ځان اخته شهٔ بهرام ځنې بيا راوتبنى. نوبنهره لره راغے. رباعي:

چراغے را کہ ایزد بر فروزد	*ہر آنکو تف زند ریشش بسوزد*

پـه هغه زمان چې د بهادر شاه ساه قبض شوه څلور واړه بادشاهزادگان يعنې معز الدين او عظيم الـدين او رفيع القدر او خجسته اختر يکايک خپل ځنگاه ته روان شول. سامان او سرانجام ئې د مورچه بندى اغاز کړ. مستعد د جنگ سلطاني شول. عظيم الدين به دولت او به سپاه او به سـامـان او سـرانـجام تـر دريـو واړو وروڼـو زيـات وهٔ. ديـو واړو اتـفاق وکړ چې په اتفاق ئې

معز الدين بادشاه کړ چې کۀ عظيم الدين شکست بيامومي ولي عهد تۀ ئې بادشاه تۀ مشر وررور ئ مونږ به دې تا اطاعت کوؤ. اما مطلب د دوي دا وۀ چې عظيم الدين زوررور دے کۀ دے مو مات کړو مونږ به يو د بله مساوي پاتو شو بيا د هر چا چې توفيق رفيق شي. په اتفاق ئې جنګ آغاز کړ. بيت:

دو تن يک شود بشکند کوه پراگندگی

شپږ ورځې جنګ سلطاني وشۀ په اوومه ورځ د پنجشنبه يو ولسم د صفر په سن مذکور عظيم الدين خونابه د اجل نوش کړه. ابيات:

دولت گيتی که تمنا کند با که وفا کرد که با ما کند
گه کلک جانورانت کند گاه گلين کوزه گرانت کند
خاک شد آن سر که درين خاک زيست خاک چه داند که درين خاک چيست
هر ورقے چهرهٔ آزاده ايست هر قدمے فرق ملک زاده ايست

عظيم الدين ډير ديندار صالح خبردار په سپاه مئين بادشاهزاده وۀ په دا جنګ خجسته اختر چې ملقب په جهان شاه وۀ بنۀ تردد ئې وکړ. پس د عظيم الدين له مرګه دوي خود په باطن کښې وران وو. هر يو خواهان د بادشاهۍ وۀ. معز الدين او خجسته اختر لږ څۀ عذر حيله د عظيم الدين د مال په مخکښې ونيوه مخالف شول. طرفينو مورچه بندي وکړه باعث په جنګ شول. رفيع القدر په دا جنګ کښې لا مل د معزالدين وۀ. اخر جهان شاه ئې هم پس له ډيره جنګه جدله په نولسم د صفر په سن مذکور مړ کړ. ابيات:

جهان اے پسر ملک جاويد نيست دنيا وفاداری اميد نيست
نه برباد رفتے سحر گاه و شام سرير سليمان عليه السلام
به آخر نه ديدی که برباد رفت خنک آنکه با دانش و داد رفت

جهان شاه بنۀ شهزاده وۀ. [٣٣٦] عدل انصاف ئې ډير وۀ لا په بادشاهزادګۍ کښې خلق الله ترې رضامند وۀ. د هر چا د دۀ په بادشاهۍ رضا وه. اما حق تعالیٰ د خلق الله په کار بنۀ پوهيږي خيريت د خلقو سکه په دا کښې وۀ چې دے ئې بادشاه نۀ کړ. بيت:

آنکس که توانگرت نمی گرداند او مصلحت تو از تو به ميداند

پس د دۀ له مرګه نوبت په رفيع الشان راغے. دۀ فکر وکړ چې کۀ اطاعت مې قبول کړ. (١) دې ډير جابر غيور دے اطاعت مې به قبول نۀ کا. يا به مې دستګير مړ کا يا به مې ړوند په بند بندي کا. ژوندے به په مړو حساب شم. او ضميمه د دې احوال نامرادي او بدنامي ده. په هر حال مرګ تر دې ژوند نه ماته بهتر دے. او بل فتح له جانبه د پروردګار ده. ګوندې خدائ

تعالیٰ فتح راکا. د دهٔ جمعیت لږ وهٔ په سبا د جهان شاه له مرګه چې شلم تاریخ د صفر وهٔ هله ئې وکړه بنهٔ جنګ ئې وکړو تورې ئې ووهلے په مړدی کښې مړ شو آفرین پرې باندې. ابیات:

شنیدم که جمشید فرخ سرشت | بس چشمه آمد بسنگے نوشت
بدین چشمه چوں ما بسے دم زدند | برفتند چوں چشم برهم

د رفیع الشان د مؤلف سره ډیر اخلاص وهٔ بلکې یار وهٔ. په ښکار ډیر مئین وهٔ دې ما هم هغه ورځې د خوانی وې. یو د بله مو ښکار د چرغ د شاهین ډیر کړے دے. نشست او برخاست مو په خلا ملا کښې سره ډیر شوے دے. دا مذکور په صدر د کتاب تیر شوے دے. سبحان الله د نفس شوم او د فانی جاه و دولت دهاره یو ورور پاخې بل ورور مړ کا. او دا هومره خلق الله پکښې بې تقریب تلف شي. دا کوم انصاف کوم دیانت. کوم مروت دے. شیخ نظامي ښهٔ وئیلي دي بیت:

پئ گورکز دشت بانان گم است | زنا مردمیهاے این مردم است
بچشم اندرون مردمک را کلاه | هم از مردن مردے شد سیاه

پس د دوي له مرګه بادشاهي د هندوستان په معزالدین زیب و زینت ونیوهٔ. رستم دل خان امرا د بهادر شاه په نامه ناموس کښې بې ادبې کړې وه مړ ئې کړ. یو نیم امرا ئې بل هم مړ کړ لس پینځلس امراګان ئې نور هم په خپل بندوبست قید کړي دي. سیاست ئې ډیر دے خدائ ئې عادل او غور رس کړه.(۲)

برادر نامدار چې پس د بهادر شاه د تلو د کابل له صوبې و هندوستان ته په معرفت د مفسدانو مذکورو همیشه دم د مخالفت ئې په باطن واههٔ اما ظاهر ځنې منکر وهٔ عیاذاً بالله. په خلهٔ یو په زړهٔ بل. همیشه به ئې خط و کتابت د فساد انګیزی و هر فریق ته چې دښمنان وو کړ. رضا مې نهٔ وه چې بد ورسره وکړم. چې به ما مهرباني پرې کړه دے به لا ورانیدهٔ مصرع:

که باکینه ور مهربانی خطا است

اخر کار ئې بې پرده شهٔ. قید مې کړ څو ورځې په قید وهٔ. تر ښنو مې پریوت. نهایت په مبالغه ئې توبه وکښه قسم ئې د قرآن وکړ سروپای مې ورکړ خلاص مې کړ اخر هیځ. بیت:

گر چه با آدمی بزرگ شود | عاقبت گرگ زاده گرگ شود

هغه د منډنو ډُزدي ئې په زړهٔ وه په سن زر سل ځلیریشت په شپه د شب برات وخت ئې غنیمت وشمارهٔ تنها وتښی. قبیله هلکان هر څهٔ ئې پریښول.[۳۳۷] په تمامه رسوایی په مهراجي په پیرپیاوې په نوښهر روبه بازي کنان په ښناز پورې شهٔ. یوسفزیو لره لاړ. قادر خان

پـه نـوښهـر وۀ. چې دے د يوسفزيو د لښکره نااميد شۀ قادر خان له نوښهره راغے. په دا آوان خبـر له هندوستانه راغے چې د محمد عظيم خوے فرخ سير (١) چې په نيابت د پلار د بنګالې په صوبه کښې... صوبه دار وۀ. سيد عبدالله خان او سيد حسين علي خان چې دواړه وررونه وو د الله آبـاد صـوبـه دار وو د بهادر شاه له لوريه. چې دا خبر د معزالدين د بادشاهي وررورسيد له معـزالـديـن آزرده وو لـه فـرخ سيره سره ئې قسم وکړ. له پټنې نه ئې فرخ سير راروان کړ. معـزالـديـن خپـل خوے د لښکره سره اکبر آباد ته روان کړ. خوې ئې تاب د جنګ رانۀ وړ. پـلار ته ئې وکښل پلار ئې خود وررروان شۀ په سمو ګړ باندې ئې جنګ په سن زر څليريشت ميـاشتـې د ذوالـحـجه وکړ. فرخ سير پرې راپورې شۀ. هراول د معزالدين کوکلتاش خان او جـانـي خـان وو. دواړه ئـې مـړۀ کـړۀ. چـې د ديـو د مرګ معزالدين واوريدل فراري شۀ. شاه جهـان آبـاد لره راغے. وزير ئې امير الامرا ذوالفقار خان خوے د آصف الدوله عرف اسد خان وۀ. په دې اميد چې دوې دولت او قوت لرې بيا به يو جنګ وکړم. اسد خان صلاح ونۀ ليده. معزالدين او ذوالفقار خان ئې قيد کړۀ. فرخ سير چې شاه جهان آباد (٢) ته راغے معزالدين ئې پـه مـوجـب د قـصـاص او ذوالـفـقـار خـان پـه سبـب د عصيان چې په مرګ ئې د شهزادګانو مصلحت ورکړے وۀ مړ ئې کړۀ. بيت:

مپندار کز خون شهنشهان	چو خون سياوش نماند نشان

پـس لـه مـرګـه د مـعزالدين فرخ سير په سن مذکور په تخت د سلطنت کښيناست. اواز ئې د عدالت او د خبرداری شته. حق تعالیٰ توفيق د عدالت ورکړه. ابيات:

چنين است ګرديدن روزګار	سبک سير و بد عهد و ناپائيدار
چو ديرينه روزے سر آرد ز عهد	جوان دولتے سر بر آرد ز مهد

هـم پـه دا آوان بهرام بدفرجام چې په نوښهر کښې وۀ په بندوبست د ترې د بولاق بنادې پور تـه رروان وم. پـه نـظـامپـور ديـره وم دے مړ شۀ. تابوت ئې نوښهريو راواخست. چشمی ته ئې راوړ. لـه خپله بده خصلته ئې هيڅوک په جنازه حاضر نۀ شۀ. تاريخ ئې مؤلف دا رنګ وئيلے دے. تاريخ:

چوں عاق والدين مظالم ز جهان برد	امروز زير خاک به ناکام جان سپرد
تاريخ فوت اوشده در فکر خود چو جستم	بهرام شادی حرام به بدحال وی بمرد

په سن زر سل څليريشت چې کادې او بادې په نوښهر کښې په بد حال پراتۀ وو په هر لور ئـې دم جنبانې وکړه. اما ماته خبث باطن او مکر او دغا بازې او نفاق د دوې معلوم وۀ. په هيڅ رنګ مې مخ د خبرې نۀ ورکاوۀ. اما دوې رشته د کتابت نۀ شلوله. عذر معذرت خجالت

ندامت ئي تل بيانوهٔ.[۳۳۸] الحق دښمن چې له دښمنی پرېوزي سلسله جنبان د دوستی شي. په هغه دوستی کښې هسې فسادونه کا چې له هيڅ دښمنه نهٔ شي. آخر الامر يو د بله په اتفاق شهباز د خپلو خامنو سره دوه خامن د عبدالقادر هم ورسره په کوزو ستر گو په سن مذکور راغے. بيا ئي قسمونه سو گندونه وکړ او عهدنامه ئي وکښه رائ کړه چې د خان لمن لويه ده گزشته تقصيرات مو دې عفوه شي. آئنده به بې له راستی او بې له خدمته او بې له اتفاقه نور هيڅ ونهٔ کړو. مثل مشهور دے چې "آزموده را مبازمائے" په دوي مې هيڅ اعتماد نهٔ وهٔ اما قسمونه ئي په قرآن عظيم وکړهٔ عظمت د قرآن راته ودريد او حق تعالیٰ د صادقانو مل دے. بيا مې روزماهيانه ئي په ځائے کړه. پولې ېټي مې ور کړهٔ. بيت:

زابلیس ہرگز نیاید سجود نہ از بد گہر نیکوئی در وجود

څو مدت ئي په ظاهر تقيه نفاقيه وکړه اما پټ خلوت ئي د نامدار سره کاوهٔ. تر هسې حده چې متنفر هراسان ئي کړ. د شب برات په شپه لکه پخوا ئي مذکور تير دے گريزان لاړ. نوبنهر ته ورغے ملاقات ئي د عبدالقادر وکړ په شهباز پسې پيوسته راتهٔ اما چې دا معامله وردوځاره شوه دے ډير خام انديش خام طمع هميشه گوش بر آواز فساد وهٔ. څو ورځې ئي خان موقوف کړ چې گوندې په دا شطرنج کښې څهٔ بازي مخ بنکاره کا. چې کار ئي د نامدار بې مدار وليد راروان شهٔ راغے قسم ئي په قرآن وکړ چې آئنده به راستي او درستي کوم او روادار د روزماهيانه نهٔ يم شغل به د کتاب کوم. په چشمي کښې به اوسم. په ظاهر په چشمي اما باطن په منصوبه يو قدم تر شهبازه تير وهٔ. شهباز مقدمه د روزمهيانه په مخکښې کړه اما غرض ئي روزماهيانه نهٔ وهٔ فساد او نفاق وهٔ. کم ستر ئي اکثر د قبيلې نفاقي کړهٔ. عبدالله خان او محمد خان ئي هم منافق کړهٔ او خطونه کتابتونه ئي د نامدار سره پيوسته کړهٔ. چې تهٔ تښه تښتوبه وکړه مونږ د قبيلې عالم واړه له دهٔ په نفاق دې تا سره په اتفاق يو. چې مونږ جنگ نهٔ کوو جنگ به څوک کا. او نور ئي هسې بادپيمايي په ميان کښې راوړے چې خان ته ئي د سر خطر جوړ کړ. ما په کرات مرات نصيحتونه پټ څرگند ورته کړهٔ اما کله ئي په غوږ لگيدل. عبدالله او محمد مې هم څو ځله گوښي کړهٔ چې دا څهٔ شطرنج دے. خان به خراب کړئ. اما هسې ئي گمراه کړي وو چې دا هومره دلسوز شهد آميز نصيحت مې واړه د دوي زهر قاتل شهٔ. مصرع: کجااست فکر کسے ورائے برہنے

اخر کار په هسې حد ورسيد چې له صلاح په فساد راغے لاچار حيران پريشان متفکر شوم. مصلحت مې تر وهلو شړلو وژلو په قيد کښې وليد. په سن زر سل پينځهٔ ويشت مياشت د جمادي الاول عبدالقادرؔ او شهباز د فرزندانو سره او عبدالله او محمد مې واړه قيد کړهٔ.

مفسدان دوي وو فساد له ذوي نه وۀ چې دوي دلې په قيد شول فساد درهم برهم شۀ. نامدار هورې بې دست و پايه شۀ پښخوا چې د تمام غوري خښني لښکر د ديو مفسدانو په طفيل راولاړ شوے وۀ لکه مذکور ئې پښخوا تير دے. جنګ د شيخ بزرګوار رحمکار په مزار شوے وۀ. رخڼ ډير تلاش د خټکو په مرګ کړے وۀ. ما په تمام غوري خښني کښې دوي په نظر کړي وو[۳۳۹] چې زۀ به د خټک بدله تر دوي ګتم. روزګار مو يو د بله نۀ کيدۀ. ليکن جلال او محبت کمالزي چې دوستان وو د محبت لُور مې محمد علي خان ته غوښتے وه. رخڼو دوي ته التجا ورورہ چې کۀ زمونږ صلح صلاح وشي بهتر دي او که نه بد د تمام غوري خښني وو پاداش بدله به ئې د دواړو له مينځه زمونږ نه واخستے شي. جلال او محبت تر مينځه شول. رخڼ ئې ښنو ته راوسعل. قسم ئې وکړ استعفا ئې وغوښته. يو دوسعان تر مينځه بل غولي ته راغلل دوي مې عفو کړۀ. ورنه مې ووې ښه زۀ به د خټک بدله له مهمندزي نه واخلم. په خاطر مې د جلال او د محبت ښل شرم د غولي مهماني مې ورکړے. او په قدر د حال مې هر يو ته دستار ورکړ. رخصت مې کړۀ. پس له څلورو پينځو مياشتو سن زر سل پينځويشت دوي ناقص عهدو بد کردارو بد افعالو سوګند او عهد مات کړ. واړه ماني زي څۀ غلۀ د امازي د کمالزي راغلل د جلبې کم و بيش دوه زره مال مويشي ئې بوتلۀ. تر دا پښخوا نصرت خانه زاد چې سوارۀ د سرکار ورسره په جتانو ورغے څۀ ميښي څۀ غوا ئې راوستے. اتۀ انۀ کسه ګجران ئې هم مړۀ کړۀ. بيا د جلبې بولاقو چې سوارۀ د سرکار ورسره راغلل نژدې کلي ته په تيګرې مال ئې ونيو. راروان ئې کړ په زور ئې راوست. هيڅ جنګ منګ نۀ وۀ. ګويا غيبي ګوله راغله رضا ډنګر زے جلبې وال ئې پريست. ډير بهادر ځوان وۀ خوږے مې ئې راطلب کړ خلعت ماتمي مې ورکړ. ډيره استماله مې ئې وکړه. د پلار په ځائے مې ملک کړ. د رضا په مرګ مې تمامي د سرکار سوارۀ او واړه بولاق ور روان کړۀ دوي ته خبردار خبر وروړے وۀ. په اتفاق ئې نښانونه ترلي آماده جنګ ته ناست وو. چې دا عالم ورښکاره شۀ. دوي راغلل د بروخې ډيره سخته کنده وه وې نيوه. اخر الامر دوه بهره کم و بيش جنګ د ټوپکو وشۀ. سخت ځائے وۀ. د سورو کار نۀ وۀ. نور جزائيل ئې په کجرخاک پريښي وو. څلور جزائيل په اخر د جنګ ځائے ته ورورسيدل. خو چې يو يو ګزار پرې وشۀ مات شول. اتۀ ويشت کسه ساوو رخڼ بې له زخميو مړۀ شول. د بروخې کندې سوارۀ منع کړۀ. ګنه ګوره څو به مړۀ وو. نور د رخڼو د مقابلې قوت پاتو نۀ شۀ. کور په کور نر ښځې په تمام يوسفزي او مهمندزي(۱) وګرځيدل بعضې په سبب د ننګ بعضې لکه صاحب خان او اشرف او بهرام د کپور نظر په خپل مقصود لښکر ئې جوړ کړ. څۀ مهمندزي (۱ الف) هم ورسره قريب شل زره

عالم جمع او بے در بے کتابتونه ئې راته کېښل چې شرم مو دامنګیر دے. یو څو خوني راته پرېږدئ چې اور پرې پورې کړو. عذر مو به وشي. زنهار چې خټک راپورې نهٔ وي طرفین به عالم ومري. فساد به زیات شي. په هغه شپه چې سبا جلبی ته راتلل لس سرې لکه صاحب خان او اشرف وغیره هر یو دا مضمون کتابت ورځخه راستول جلبی مې ورته پرېښوه تر سینده راپورې په جهانګیرې برابر دیره شوم. از راه احتیاط مې مورچه بندي د پیرسباک تر ګودره او تر دوبندی د خیر آباد قائمې کړے. دوې بدقول بد اندیش بدکردار میدان خالي بیاموندهٔ. [۳۴۰] شپه ئې په جلبی په تورډهیر پټانو په لاهور په بازارونو تیره کړه. (۱) اور ئې په جلبی په تورډهیر پټانو پورې کړ. میدان ئې خالي بیاموند. لښکر هم انبوه وهٔ په غاړه راروان په قصد د مصرې بانډې شول. جنګ پورې راپورې د ټوپکو د جزائیلو کیدهٔ. په مات زړهٔ په مصرې بانډه راغلل. جزوې حسن خیل څهٔ جزائیل بردار د سرکار په ګرې کېښې د مصرې بانډې وو جنګ ئې په ګرې دوه دوه نیم پهره وکړ. شل پینځهٔ ویشت کسه یوسفزي په ټوپکو جزائیلو ومرهٔ د زخمیانو حساب نهٔ وهٔ. په وخت د نمازدیګر مات شول. د قتل عام نصیب نهٔ وهٔ تقدیر په تدبیر مقدم دے. فرد:

قضا کشتی آنجا که خواهد برد | وگر ناخدا جامه بر تن درد

اراده د پروردګار نهٔ وه او کهٔ نه کهٔ لښکر مې ورپسې پورې کړے وے ګوره څو عالم به قتل شوے وهٔ. دا واقعه په سن زر سل پینځهٔ ویشت په ورځ د جمعې میاشت د ربیع الثاني وه. په سن مذکور نولسم د ربیع الثاني جمال د همزه په مرګ مفاجات ومړ. عیاذاً بالله. په سن زر سل شپږ ویشت نواب ناصر خان ځوے د حسین بیګ خان چې شاهزاده رفیع الشان په خپل نیابت د کابل صوبه داري ورکړې وه. پس د معزالدین بادشاه د فوت چې والا ګهر محمد فرخ سیر بادشاه شهٔ په سن مذکور له صوبه داری د کابل تغیر شهٔ. صوبه داري د کابل په نامه د سپهدار خان چې ملقب په عزالدوله وهٔ ځوے د بهادر خان کوکه وهٔ نامزد شوه. سپهدار خان نهایت معجب مغرور متکبر وهٔ. بل لوے قباحت دا وهٔ چې ناواقف کار وهٔ. د دې سرزمین له بندوبسته هیڅ واقف نهٔ وهٔ تمیز د نیک و بد د دولت خواه د نا دولت خواه ورسره نهٔ وهٔ. بل عربې: "حب الدنیا رأس کل خطیئة" هومره پکښې وهٔ چې نور ئې هر څهٔ هیر وو. نامدار بې مدار چې په بدراهی د کادې بادې چې پښوا ئې په صدر د کتاب کښې مذکور تیر شوے دے دې ما فرارې شوے په یوسفزیو کښې ئې سکونت نیولے وهٔ. پس د ناصر خان د تغیر ئې خپله بدمصلحتې ولیده چې مغل ناواقف کار دې. هر چې ورته وایم غوږ به ورته نیسي. لاهور ته مخې ته ورغے. هومره پوچ ګویې باد پیمایی ئې وکړے د برف منارې ئې سازې کړے چې

په قید د قلم نهٔ راځي. دې ما هم په سبب د ناواقف کاری واهمه وشوه. احتیاط مې په خاطر راغے. مصلحت مې هم دا ولید چې د قبائل سره نظامپور ته چې مینځ د اولس دے سخت ځائے دے. بل خان علیین مکان آباد کړے ډیر کالونه ئې استو گنه پکښې کړې بهرام بدفرجام اوجاړ کړے وهٔ. بیا ئې سر د سره آباد کړم. نواب ناصر خان چې حضور ته روان شهٔ یو صوبه داري ئې کړې وه بل دې ما د دهٔ حق د گزشته اشنایي د صحبت لغایت د امیر خان تر صوبه داری د بهادر شاه بادشاه چې په شاهزادگی کښې صوبه دار د کابل وهٔ تر مینځه وه. او بارها احسانونه طرفین شوي وو. تر گودره د خیر آباد ورسره لاړم. په وخت د پوري کیدو ئې راته ووې چې فلانه سپهدار خان خپلے عالیجاه دے تهٔ به څهٔ کړے. ما خو مجملاً دا رباعي د خان ورته ووې. رباعي:

مـغـل بـې قـدره پښتون بې ننگـه — تـوبـه لـه تـوري تـوبـه لـه جنگـه
تسبیح په لاس کښې په نظامپور کښې — ناست په مسجد کښې جمدر تر څنگه

[۱۳۴۱] ناصر خان چې د اټک تر سینده پوري شهٔ زهٔ له خیر آباده رخصت شوم کور ته راغلم د مال حال د فرزندانو سره د قبیلې عالم لکه ورور عبدالله خان محمد خان او گوهر خان او عبدالرحمٰن د حکیم خان هذاالقیاس د توکه توکه حسن خیل تمام اولس د څینې (۱) راسره نظامپور ته راغلم ځینے مې په زیره په سبهنړ واچوهٔ. د قبیلې عالم او حسین خیل مې په توهه په کهو په ماندوریو آباد کړهٔ. زمکې پټے مې ورکړل. ما د خپلو وابسته ؤ سره مستحکمه قلعه په نظامپور ښازه کړه: فرزندي سیف خان مې جانشین کړ. په سرائے کښې مې پریښن. خدمت ئې د شاهراه کاوهٔ. سپهدار خان چې په حسن ابدال راغے خیر آباد ته ئې په استقبال سپاه د تمام اولس سوارهٔ پیاده راسره ورغلم. په گودر کښې مې د خیر آباد ملازمت وکړ. اما لکه چې چا وې تر هغه ئې دماغ کبر ډیر وهٔ. دوه درې شپې ئې په سبب د باران په خیر اباد تیرې کړے چې کوچ ئې وکړ په شیدو ئې واړول. زهٔ هم همې په قوت ورغلے وم چې د گیدړ گلی تر سرایه پوري دې ما سپاه او د اولس پیاده وو. محله ئې ورکړه حیران شهٔ. له شیدو نه په گرداب دیره شهٔ ما د گرداب په اسماعیل خیلو کښې دیره ونیوه. نمازخفتن ئې حضور ته وبللم خلعت ئې راکړ رخصت ئې کړم. راروان شوم. سرائے ته راغلم نامدار بې مدار ورسره په رکاب کښې پېښاور ته لاړ. د خپلې مهم سازی خبرې ئې په وسیله د خواجه کاظم چې د ده دیوان او قدیمي وهٔ کولے. اما بعضې امرایان چې واقف کار وو په عرض ئې ورسول چې فلانه بادشاه او امیر شناس دے. د بادشاهزادگانو سره ئې بالمشافه گفتگوئے مجلسونه کړې دي. کارگزار خدمتونه ترددونه بارها ترې ظاهر شوي دي. د بادشاه فرمان سند لري.

تـمام خـتـک پـرې متـفـق دي. دا کـار صلاح دولت نهٔ دے. د کابل لار بنده ده. تر اټکه تر پښـاوره بـه ئـې دے بـنـد کا. عظيم فساد به واقع شي. تدارک تلافي به ئې مشکل شي. نامدار نـاواقف کـار دے. پـه مـغـل پـه پښتـانهٔ اعتبار نهٔ لري. روشناس کارګزار نهٔ دے. هر چې وائي صـاحـب غـرض دے او دروغ وائـي. زهٔ هم په نظامپور کښې مستعد ورته ناست وم. په خاطر کښـې مـې ونيـلي وو چې خدمتونه مې د شاهزادګانو د امرايانو کړي دي بادشاهي بنده يم. له اوله خپل نوم نهٔ بدوم. کهٔ دے غلط شي بې خايه حرکت وکا دې ما ملک چې بادشاه راکړے دے نامدار ته ورکا. نامدار خود يو سپيرهٔ سړے دے. معالجه ئې سهل کار دے:

هر آن کهتر که با مهتر ستيزد　　　چنان افتد که هرگز بر نه خيزد

او پـه دهٔ بـه هـسـې فساد شـنـدي وکړم چې تمام تري بولاق افريدي بنګښ به سره ټول کړم لښکر به جوړ کړم تر پښاوره تر اټکه به لار هسې بنده کړم چې هيڅ متنفس پر ونهٔ وهي. دے بـه تـر بادشاه تر خلق الله بدنام کړم. حق تعالیٰ مل او يار دے هيڅ لاس دست ئې ونهٔ رسيد لا د لاسـه ئـې پـروانـه خـط د لاسـه د مهـرباني وکيښ. ما هم هغه رنګ خواب پيغام ورته وکيښ ليکن اعتبار مې پرې نهٔ کاوهٔ. يو کال ئې نوم د صوبه داری وهٔ ليکن صوبه داري موبه داري څهٔ نـهٔ وه نـور تـغيـر شـهٔ. هـم د دهٔ پـه صـوبـه داری کښـې چې زهٔ نظامپور ته راغلم دې ما د مغل نـاويـسـاهـي تر مينځه پيدا شوه. د رخړو دښمني فتنه تر مينځه باقي وه. لکه پخوا ئې په کتاب مـذکـور تير شوے دے. د امازي کمالزي خپل غرض تر مينځه وهٔ وپوهيدل چې فلانه [۳۴۲] د مـغـلـه ناويسا مقابلې ته به راشي. مونږ به د سيند غاړه وته وسيزو نوم به بنهٔ کړو رخړ جزوي امـازي کـمـالزي نصرت خيل هم ورسره لښکر ئې وکړ. په اتفاق راروان شول. زهٔ په نظامپور کښـې وم خـط د سـرايـه رالـره راغـے کـهٔ نهٔ ورتلے فساد ئې کاوهٔ. شرم مې دامنګير کيدهٔ کهٔ مـقابلې له ورتلے د مغل ناويسا وم. ناچار د ناکرده کار مغل دلاسه په فکر ورروان شوم نرى ته ورغـلـم دې ما شپه په نرى شوه. د دوي په جلبې چې دې ما راتلل ئې واوريدل دروه ئې سبيخ شـهٔ حيـران شـوم چې پسته جاروتے شرميدل کهٔ جنګ ته راتلے له شکسته ويريدل په مات زړهٔ راروان شـول. خـداىٔ راکـړي وو د مـصـري بـانډې چوټې ئې ليدلے وهٔ په مجرد دې ما د ليـدل بــه مـات شـوي وو ليـكـن د مـغـل لـه مکره دروه ويريدم. تر سينده نـه پورې کيدم. د جهـانـګيـري پـه قـلـعه کښې مې توپخانه اچولے وه. غرض ئې پرې ونهٔ کړ. په څنګ ترې تير شول ميان عيسیٰ (۱) تـه راغلل جزوي عالم مې ورپورې شهٔ د توپکو جنګ ئې سره وکړ. دا عـالـم جـزوي پـورې شـوے وهٔ. توان ئې د هلې نهٔ وهٔ دوي فرصت غنيمت وشمارهٔ شا ئې راته کړه روان شول په تيښته لاړل. القصه په سن زر سل اووهٔ ويشت چې سپهدار خان تغير شهٔ

هندوستان ته روان شۀ. له پښاوره راووت په هزار خواني ئې واړول. يوسفزي او مهمندزي (ٔ) ورسره خپل طلب تنخواه ئې ترې وغوښت. نور ئې ماته وکښل سرې ئې راستول چې کۀ سونيالې مهراجي ته راشے مونږ به نوښهر ته ورشو هر مونږ يود بله په اتفاق ترې غواړو هغه به راسره وکا. او کۀ نه تالان به ئې کړو. ما خو حکم ورکړ ليکن د يوسفزيو سګ خصلتي شوم طبعي معلومه په تش خط په لږه طمع ډير دې ما نه هراس رانغلل تشه تښتوبه ئې هم ونۀ کړه. سپهدار خان سلطان مبارز خان او دلاور ګهکړ هراول کړۀ چنداول کړۀ جريده اس د قمچي روان شۀ. په خير آباد ئې واړول. بې توقف پورې شۀ. پس د دۀ د پورې کيدو ناصر خان صوبه دار راغے. ما وته ئې هم پروانې ښخوا مشتمل په مهرباني کښلے وے چې په حسن ابدال راغے عبداللطيف د دۀ ملازم داروغه ئې خواصان او مصاحب وۀ سره د پروانې ئې راستوۀ. ډېر څۀ ئې کښلي وو غرض دې ما د ليدو ډير مشتاق وۀ. چې په مندروټو راغے ما خو فرزندي محمد علي خان د بازونو سره په استقبال حسن ابدال ته ورستولے وۀ. زۀ د نظامپوره ورروان شوم. تر ماندوريو راپاس مې د توپک ښکار وکړ. هم هغه رنګ په ښکارې جامو کښې ورروان شوم. جريده د دۀ تنبو ته په هغو جامو کښې نمازښام ورغلم خو چې ستر ګې ئې په ما برابر شوے راته ئې وخاندل وې وئيل راشه د نظامپور د مسجد خادمه. بغلګيرې مهرباني ئې راسره وکړه. په سبا اټک ته راغلو. چې راپورې شو دوه اسونه يو صندلي ابلق بل پرې پيکر مې ورته نذر کړۀ. ډير محظوظ شۀ پرې پيکر الحق پرې پيکر وۀ نوازش علي خان د دۀ خوے پرې ډير مئين شۀ. هم دې ما په سفارش ناصر خان ورکړ. پښاور ته ئې ورسره بوتم. انۀ لس شپې مې په پښاور کښې وکړے. ښکارونه مو سره د بازونو وکړل. په وخت د رخصت ئې خلعت فرزندي محمد علي خان ته ورکړۀ. سرائ ته راغلم. دوه شپې مې په سرائ[۳۴۳] کښې وکړے. د ګرنګ په لارې روان شوم نظامپور ته راغلم.

مقدمه د بنګښ د جنګ

په سن زر سل انۀ ويشت عزت د عبدالله شمشير د قابل بنګښ پس د قابل د عبدالله د واقعې چې اصالت بدمصلحت د اسماعيل ورارۀ بې تقصيره مړۀ کړۀ نظامپور ته راغلل. دوي خو صاحب غرض وو ډير څۀ ئې وئيل ليکن اسماعيل دې ما دست برداشته وۀ. پس د اورنګزيب د واقعې چې بهادر شاه له پيښوره هندوستان ته روان شۀ. اسماعيل راکره راغے د قابل نه آزرده وم. دے خو مفلس وۀ د بيګا سبا ئې نۀ وو. لښکر مې ورسره کړ ډير خرڅ اخراجات مې له کوره ورکړ. کوهاټ ته مې ورروست قابل ئې پائ برهوا کړ. خو مستقل نۀ وۀ په هر کار ئې ممد و معاون وم. په دا سبب په طرفين اشد راضي وم. فرزندي سعيد خان

فوځدار د لاچی وۀ ورتـه مې وکښل چې عزت شمشير درغلل صلح صلاح ئې د اصالت وکړه. سعيد خان د توکه توکه بولاق د لاچي وغيره په طريق د جرګې د معرکې عالم ئې روان کړ. ښنګښ چې بچۀ بدهنر دے اما دا هومره احسانونه ئې فراموش کړل قابو ئې وليد لښکر ئې پرې وزغلوۀ. هغه د جرګې د معرکې عالم ئې مړ کړ. زۀ په دا وخت د بهادر چې ګل د پيغمبر پـه تـماشـه د بهـار درسـت صـورت کسي کړے وۀ او ګل د ګلاب په استماع د لحن داؤدي سـرود باربـدي يعنـي اواز د بلبلو تمام وجود غوږ کړے وۀ په باغ په راغ لاله زار په کور په صـحـرا ګـلزار وۀ په کار خير د محمد علي خان چې نسبت ئې د محبت د شهباز خان د څوے کـره وۀ. سـرائے تـه د قبـاالله سره راغلے وم چې دا خبر راوررسيدۀ. زر مې کار خير پيوند کړ د سـرايـه په کشتو کښې کښيناستم شپه مې په خير آباد شوه. د خير آباده په شګې ورتم داخل پـه نظامپور شوم. سبا مې محمد علي خان د فوځه سره روان کړ لاړ. په مقام د څودے (۱) ورته ډيره شوم. ايمل افريدي ته مې کښل کړي وو دے هم د محمد علي خان رفيق خدمت شۀ. يو نيم کلے ئې تاخت و تاراج کړ. اصالت عنايت ترهور د اسماعيل او عالم شير ملک ميري سپه سـالار کـړۀ. پـه جـنـګ ئـې د محمد علي خان راروان کړ. په مقام د بيلو تنګ(۲) ئې جنګ پيوسـتـه کـړۀ. حق تـعـالیٰ ښنګښ مات کړۀ. عالم شير او قابل چې سپه سالار وو په هغه ځائے پـريـوتـل مړۀ شول. نور د پلنو د سورو د مړو حساب نۀ وۀ. ماتې ئې تر بيلو تنګ تر کوهاټ يـوړه. مـا خـو حـکـم د کوهاټ په وهل د اصالت په پاڅول کړے وۀ. ليکن په نواب ناصر خان مستغاثي شول نواب ناصر خان خپل سوارۀ سيتهه سادهو رام دې ما وکيل پروانه سره راستول چې خپـل دې يـو پـه لس واخستل جاګير د مغل دے دې ما بدنقشي ده. محمد علي خان منع کړه په مقتضا د نواب د رضا محمد علي خان مې حضور ته طلب کړ په فتح په فيروزی راغے.

مقدمه د عزت کهتړ

پـه دا آوان چې نواب ناصر خان له پښاوره کوچ د کابل په لور وکړ له خيبره تير شۀ. د ښنګښ سـره بـدي پـه يوسفزيو هم د رخړو د کمالزيو د بعضې سدوزيو سره بدي وه. عزت کهتړ (۳ الف) چې په وسيله د خورځي نسبت ئې د سيد عبدالله خان (۴) سره شوے وۀ. فوځدار [۳۴۴] د اټـک شـۀ. اټـک تـه راغـے زمونږ د کهتړو عداوت له آوان د خانِ عليين مکان وۀ چې توهه کهـود مو وهلي وو. ښۀ ښۀ کهتړ ومړل او متاع ئې تاراج شۀ. بندي شوي وو په دا وخت چې دے فوځدار د اټـک شۀ يو نظر په عداوت قديمي بل. قطعه:

سفله چو جاه آمد و سیم و زرش — سیلی اے خواہد بضرورت سرش

آن نہ شنیدی کہ فلاطون چہ گفت — مور همان بہ کہ نباشد پرش

پـه لـړ غـرض گيله آميز خط پيغام به ئې کاوۀ ما خو نظر په بعضو کارونو بل نيت په خيريت د خلق الله چې "الصلح خير" واقع دے اکثر چشم پوښي وکړه ليکن بيت:

چو با سفله گوئی بلطف و خوشی　　　فزون گردش کبر و گردن کشی

رفته رفته کـار ئـې پـه لښـکر کښې ورساوۀ. په دا وخت چې سن زر سل ديرش وۀ نامدار بې مـدار ئـې چـې رو بفرار دې ما نه لاړ وۀ سکونت ئې په يوسفزيو کښې نيولے وۀ طلب کړ زۀ په نـظامپـور محمد علي خان مې د خپله فوځه د بتيه خيل پياده ورسره خير آباد ته رخصت کړ. مستحـکـمـه مـورچه بندي مې ئې وکړه. محمد او نجابت يو څو نور د دوي غونډې بې ننگه نـاشدني د قبيلې مې په کهو په ماندوريو تانه کړۀ. مهمندي ببر مې ورسره کړۀ. يو مياشت کم و بـيش تـوپ او تـفـنگ انـدازي طـرفيـن وشوه چې کار په دا حد ورسيد زۀ په طريق د سير و شـکار د نظامپوره څو خواصو خدمتگارو سره څورپانی ته راغلم. هم ښکار هم تماشبين د دې کـار وم. چـې دا سـفله نو دولت ناکرده کار له دې هومره هنگامه آرايي څۀ غرض لري. په دا جـنـگ فـرنـگـي چـې په ميان د درياب واقع دے دۀ ته څۀ نفع مونږ ته کوم نقصان. عبث سکه بـارود ضـائع کيږي. او الحق چې محمد علي خان له خپله فوځه له متفق عالم سره په خير آباد وۀ تـمـام قـوت د کهـتـر درسته نواره د اټک په دا مدت کښې بې دست پا ناست وو. محمد نـجابت بعضې نور منافقان مفسدان چې د دوي رفيق کار وو ورته ئې پټ خط پيغام وکړۀ چې د مـحمد علي خان سره خپل فوځ اتفاقي لښکر دے. شدت جنگ ورسره عبث سر په سنگ وهـل دي. څـو بيـرې رالاهـو کـړه لښکر دي پسې راشي خو چې لښکر رانبکاره شي مونږ به مـورچـې پـاځوؤ. بې جنگه بې جداله به راپورې ووځي. هم هسې ئې وکړل درې څلور کشتۍ ئـې لاهـو کـړے. پـورې غاړه برابر په ماندوريو ئې وتړلے. په سبا په بل سبا لښکر د کهتړو له کـوتـه ووت. مـونـږ خـو هـسې روباه بازي محله نمائي لکه سک په دم جنباني د خپلې دنبالې نـگهبـانـي کـا. له دې هسې کاره څۀ خبر وو لا يو تير پرتاب لښکر له دريابه پستنه وۀ دے بې ننگو بد انديشو مورچې پاځولے. زۀ په څور پانی کښې په فراغت ناست وم ناگاه بې جنگه بې جـدلـه بـې تيره بې تفنگه گرد غبار لوگے په نظر راغـے. په تفتيش په تحقيق د دې کار شوم. په دا ميـان کښـې مـانـې خـدمتگـار يـکتـاز راغـے چې مورچه په دا صورت پاشيده. مهمندي ببر پراگنده شول. فوځ مې په خير آباد غليم روبکار. بيت:

چو خنده بر لب ماتم رسيده حيرانم　　　نه پائے رفتن و نے روئے بازگرديدن

اگـر چـې رگ د غيرت مې په هسې حرکت راغـے چې يک تنها په دا يو نيم زره سپاه شل زره پياده ؤ ترک تازي وکړم ليکن عقل دورانديش مې عنان گير شۀ. راته ئې ووې فرد:

شاه باید که لشکر انگیزد سواری چه گردد برخیزد

لاچار د پالکي د کهارانو سره نظامپور ته روان شوم. شپه مې په نظامپور شوه. خائے د مقابلې وهٔ لیکن فوځ اولس ځي تار په تار په خپلو کلو شهٔ. را ونهٔ رسید. [۳۴۵] له نظامپوره په توتکي له توتکیه په جیناکور لاړم په مقتضا د دې بیت:

ځو وانخلي لـه غلیمـه انتقام مـرد نـهٔ خوب کا نهٔ خندا کا نهٔ ارام

دولس دیارلس شپې مې په جیناکور کښېنې په دا فکر تیرې شوے. نواب ناصر خان په کابل وهٔ موسـم ئې د آمد وهٔ په خاطر راغلل چې فکر براصل د دې کار کړے بویه. کهٔ کهتړ دا کار د نـواب پـه اشـارت کړے دے په مرضی د نواب دے هسې کار کړے بویه چې شاهراه تر اټک تر پښاوره پورې بند کړم. او هر چې په دا میان په لاس راځي همه علف تیغ شي. او اباداني تر اټک تر پښاوره په اور وسیزم. پښتانهٔ خود گوش بر اواز فساد دي. چې زهٔ دا طوفان د تیغ د اور پـه دا اخـره زمـانـه بـرپای کړم خود به دا مارونه لړم سرونه له سوړیو د خونو بیرون کا. د خیبـر پښتـانـهٔ بـه سـنـگ راه د نـواب شـي. او زهٔ به دلې ملک تاخت و تاراج کړم. په بادشاه بـدنـام پـه خـلـق الله بـه ئـې رسـوا کړم. لیکن په دا دولس دیارلس ورځو کښېنې پے در پے دوه پروانې د نواب په دا مضمون راغلے چې کهٔ زما شرم ساتے پخوا زما تر آمده دغه سفله کمینه اوارهٔ دشـت ادبـار کـړه. پـه خپـل ځائے په خپل زور په خپل ملک کښېنه. زهٔ هم په مجرد د مـطالعې د ثاني پروانې له جیناکوره راروان شوم. په وخت د یورش والده د محمد علي خان په حـال د نـزع وه. حفر د گور جنازې ته ئې معطل نهٔ شوم. کار مې په خدای حواله کړهٔ. شپه مې شـمشتـو تـه راوړه. نـامـدار بې مدار چې دې ما نه خبر شهٔ. تاب ئې رانهٔ وړ. سرای ئې پریښ. خـنـگ ئـې د اټـک گـودر تـه نـژدې کـړ خیر آباد ته لاړ. محمد نجابت ئې د پنځوسو شپیتو سـورو سـره پـه مـلـگیری د ځینیو سپین کانې ته راستول چې خبر شوم محمد علي خان ته مې حـکم وکړ شبخون ئې وکړ. بخت ئې یار شهٔ بلا معطله پسـتنه له سپین کانیو خیر آباد ته لاړل. زهٔ هـم پـه هـغـه سبـا پـه وخت د نمازښام ورځ د چارشنبه اتم د ذوالحجه په سپین کانې داخل شـوم. سبـا انـم د ذوالحجه ورځ د عرفې له سپین کانیه روان شوم. تونگر په گنج د تیغ وم. په عـوض د اضـحیـه واجـب مـې په ځان قرباني د ځوانانو شوه. زیارت مې د شیخ بزرگوار شیخ رحـمکار وکړ استمداد مې وغوښت. (۱) پـه لمن د غرهٔ روان شوم. اراده مې وه چې د رشکی پټوے پـه مـنـدو خیـلو به خیر آباد ته ورشم لیکن په قبرستانونو د سینک سرپو خبر راوړ چې سـوارهٔ د گیـدړ گـلـی راووتـل. د مندوخیلو لار مو موقوفه شوه. په سینک په کتې میله خبر مذبذب شهٔ. خیر آباد ته لاړم. د خیر آباده په ځوتره فضیلت مآب قاضي معظم بقضائے الٰهي

حمید الله د رستم حاضر کړ. چې نامدار د پوښنو سورو او دوه صو شل جزائیلو سره سرای ته لاړ. نور مې وړ چې تاخت ډېر شوے دے. اسونه مانده خوانان کوفته دي. بائده دي چې اسونه راتب وخوري څوانان آب و طعام شي. او د دې ځائے په ځائے بل وي. چې گمان د اټک د عالمو زمونږ په مقام وي. پس د نمازخفتن به تاخت وکړو. پس د نمازخفتن چې تهیه د تاخت وشوه نامدار هم مدار د فوځه سره خود بخود په خپلو پښو خپل گور ته راغے. پیاده مې د بتیه خیلو وغیره د وراندې کړهٔ. زهٔ د خپله فوځه سره پسې روان شوم. دے د گاډیو د گودر په لارې راغے. ما پیاده قبله رویه غرهٔ ته کړهٔ. ما هم د گاډیو لار ور واخسته. محمد علي خان په سن د پانزده سالگي محمد حسن د چهارده سالگي اسد الله خان د یازده سالگي محمد اشرف د انهٔ سالگي په رکاب کښې راسره [۳۴۶] حاضر وو. سلح دار عرض ئې وکړ چې خان دې چلقت (۱) واغوندي. توره دې په ملا کا ما ورته ووې اوس محافظت د ځان نهٔ کړم. د هزیمت تر ژوندانهٔ مرگ بهتر دے. یا مې فتح وکړه یا مې میدان ځائے شهٔ. ما و جنگ ته نادان فرزندان هم راوستلي دي. خو په وخت د مقابلې موتیے د حاجي خانې په لاس راکړه تیکه ئې تهٔ واخله. الغرض بازار د جنگ عین د گاډیو په گودر کښې شپه د عید اکبر سن مذکور گرم شهٔ. غلیم د هغو هومره جزائیلو سره خو په ما راغے. گولئ د جزائیلو لکه بړان هسې وریدے. صبر مې پیشه کړ. سینه مې و قضا ته سپر کړه. ژغ مې په خوانانو وکړ چې کېهٔ سر په سبب د گولیو هسکولے نهٔ شئ په سینه ورځکیږئ مخ په وراندې کړئ. پښې مه نیسئ رحمت باد. دوي هم هسې وکړ مورچې ئې پاخولے پستنه شول. هم دا رنگ مو په سینه سینه وهل څو مات شول. بنهٔ بنهٔ کهتړ بنهٔ بنهٔ مغل راجپوتان ومړل. په اتصو انصو سورو پیاده ؤ کښې معدوده سوارهٔ خلاص شول د گیدړ گلی گیدړ پرې مارهٔ شول. هر چې په میدان علف شمشیر شول حصه د شغالانو شوه باقي په دریاب غرق شول بخره د ساکنانو د دریاب شوه. مصرع:

کہ حلوا بہ تنہا نہ شائست خورد

نقل دے چې د مکهډو باغ عالمو څو ورځې په سبب د مردگانو اوبهٔ د آب سیند نهٔ څښے. صد رحمت په محمد علي خان شه. بنهٔ تردد بهادري ئې وکړه. تر واړو سورو په سر همرکاب همعنان تر شیدو پورې په نامدار پسې تهٔ سوارهٔ ئې پریستل. په دا سن د محمد علي خان چې د پنځلسو کالو پوره شوے وهٔ. او کتخدائي ئې هم په دا کال شوے وه. او هم والده ئې په دا کال هغه شپه چې ما له جینا کوره کوچ وکړ وفات شوه د دې تردد تعریف څو کښم دا بیت شاهد د دهٔ د حال دے بیت:

خو چې والوخې له خالي منګل سره کا　　　　په وهلو آموخته د باز مرغې دے

نامدار په مخ ګریزان تۀ. دا بیت ئې په زبان حال وایۀ. بیت:

که ګر رستم از دست این تیرزن　　　　من و موش و ویرانه پیر زن

په شپه شپه تر نوښهره تیر شۀ. د ختکي په ګودر په بدحال پورې شۀ. زۀ په سبا ورځ د عیدالاضحیٰ سرائ ته راغلم. شادیانې مې د فتح وغږولے. په سبا فرزندي سعید خان چې فوځدار د لاچې وۀ. د ترې بولاق سوارۀ پیاده ورسره سرائ ته راغے. ملازمت ئې وکړ. پیاده مې هم د بتیه خیل ورسره کړۀ خیر آباد ته مې رخصت کړ. دې ما خو کهتړو ته ډیر کارونه په نیت وو. حکم مې کړے وۀ چې اټک خو بادشاهي ښهر دے لیکن فتح جنګ چې د دوې کور خانه دے او پنډ دومیل هر چې په دا میان راخي په تیغ به اور ئې تاخت تاراج کړي. لیکن په دا میان کښې نواب ناصر خان داخل په پېښاور شۀ. په دا هرج مرج افراط او تفریط کښې شاهراه ګودر د اټک بند وۀ. بدنامي بدنقشي د دۀ وه. درې امرایان یو بدیع الدین خان دویم میر جمال الدین دریم عبدالرحیم بیګ خان ماهي ګیر ئې راروان کړۀ راغلۀ راته ئې وویل چې نواب په دا فتح هومره ډیر خوشحال شۀ چې په جامو کښې نۀ ځائیږي. ونیلي ئې [۳۴۷] دې چې کار حسب المدعا وشۀ. اوس نور شاهراه او ګودر بند مناسب نۀ دي. دې ما بدنقشي خفت دے مناسب دي چې سعید خان دې په حضور طلب شي. په مقتضا د نواب د رضامندی سعید خان په حضور طلب شۀ عمر کوکه مې د امرایانو سره کړ. خیر آباد ته ئې کوچ وکړ ګودر ئې جاري کړ. په دا ضمن کښې واقعهٔ د نواب ناصر خان په ورځ د پنجشنبه اتم د محرم سن زر سل یو دیرش وشوه. قالب جسماني له روح انساني خالي شۀ. حیات مستعار ئې په حاملان امانت کیش وسپارۀ. بیت:

نه عمر خضر بماند نه ملک اسکندر　　　　نزاع بر سر دنیاے دون مکن درویش

ناصر خان ډیر آشنا پرست وفادار قدردان دور اندیش سیر چشم مغل وۀ. په مجرد دې دۀ د واقعې فوځدار د اشنغر په اشنغر کښې مهمندزیو محاصره کړ. نوازش علي خان د دۀ ځوي امرایان مذکور ته وکښل چې شباشب راځئ د نوښهر په ګودر پورې شئ. فوځدار د اشنغر راخلاص کړئ. شباشب راغلۀ په نوښهر پورې شول فوځدار ئې له قلعه بیرون کړ. تمام مهمندزے ورته پروت وۀ. جنګ ئې وکړ مغل مات شۀ. بې حسابه ئې مرۀ کړۀ. تار په تار پراګنده شول. بدیع الدین خان په بدحال نوښهر ته راغے. میر جمال الدین د ولې تر ویخ عبدالرحیم بیګ په شقیقه په غشي ویشتلے شوے وۀ. عظمت جنډ چې کوتوال د پېښاور وۀ په ورانۀ په ګولی زخمي شوے وۀ. وې وئیل چې کۀ فلانه ته ورسو هم به خلاص هم به مو

خصمانه په ښهٔ طریق وشي. درې واړه شپیتهٔ اتیا سوارهٔ ورسره په لار د میرې کالا پانی د مصرې بانډې کور ته راغلهٔ. ما هم نظر په حق د اشنایي او د غولي پالکی کور ته ورستوله. درې واړه ئې وار په وار راوړل. غشي مې په خپل حضور ترې وکښل. خصمانه ئې وشوه. مهماني مې ورکړه. په سبا رخصت شول پښاور ته لاړل.

واقعه د فرخ سیر بادشاه د قید او په تخت ناستے د رفیع الدرجات

فرخ سیر چې په تخت د سلطنت جلوس وفرمایهٔ په مقتضا د قدرداني چې لازمه د ذات بادشاهان عالي شان ده. او ترددات چې سید عبدالله خان او سید حسین علي خان په سلطاني جنګ کښې په ظهور راوړې وو عبدالله خان ئې په مسند د وزارت په خطاب د قطب الملک سربلند کړ. او حسین علي خان ئې امیر الامرا بخشي الممالک کړ. صوبه دار ئې د دکن کړ. دکن ته ئې رخصت کړ. جمله نظم و نسق، عزل نصب بندوبست بادشاهي تعلق په درې پورې ونیو. اول ئې امیر الامرا ذوالفقار خان ځوے د اسد خان مړ کړ. نور اکثر مغلیه امرایان ابائي اجدائي منکوب او مکسور شول. هر چې وو هغه هم د دوي د لاسه وو. دولت قوت ئې تر بادشاه زیات شهٔ. دانایانو وئیلي دي "دوست ته هومره قوت مهٔ ورکوه چې کهٔ ورسره دښمني کړے تر سره نهٔ شي. او هر څوک چې په وزیرانو نادرست اعتماد کا لاس دې له بادشاهی پریوینځي." في الجمله هر کار چې بادشاه بې د دوي د مرضي وکړ اګر چې صلاح دولت بادشاهي وهٔ هم به دوي بد منل. خلاف او نقیض به ئې پیدا کړ. رفته رفته حق ئې د خپل ولي نعمت فراموش کړ. کار ئې په خلاف په نزاع ورساوهٔ. حسین علي خان له دکنه بې د بادشاه له حکمه راروان شهٔ افترا ئې وکړه چې د کام بخش ځوے مې په لاس راغلے دے. څو حسین علي خان راتهٔ هومره عبدالله تقیه[۳۴۸] نفاقیه کړ. چې حسین علي خان په شاهجهان آباد داخل شهٔ. پس له ډیره ګفتګویه په ورځ د سه شنبې اتم د ربیع الثاني سن زر سل یو دیرش علي الصباح ئې عرضي بادشاه ته واستوله چې نن ورځ دې بادشاه ښکار په دولت موقوف کا. هغه قیدي یعنې ځوے د کام بخش به تر نظر انور تیروم. بادشاه ښکار موقوف کړ په دا میان کښې عبدالله خان وزیر او اعتقاد خان او ظفر خان (۱) د جرګې دپاره د بارکو د آزمیښت څوترې ته وختم، بارک مې سره جرګه کړهٔ نور بارک واړه جوړ وو. میره خان مینځي بلند د لعل بیګ ځوے یو نیم بل په سبب د طمع نامدار ته په جرګه حاضر نهٔ شول. ما چې سرای چې زمونږ کورخانه دے او زمونږ د پیشینانو او ما خپل کړے وهٔ دپاره د یوې ورځې د مغل سره بې جنګ بې جدله پرېښې. دهٔ ناقابل په سبب د پیشکش هم د ډیلې د

ناشدنیانو له غم پچوتائي کړ. تري بولاق چي قدیم بادشاهي جاگیر دے چندان تعلق مي پري پوري نهٔ وهٔ. په سن مذکور په تاریخ د اووهٔ ویشتم د ربیع الثاني کده مي هم په خان پسي څوتري ته وبلله. یوڅ مي هم ورته پریښ. په وخت د تلو و شابي خیلو ته نامدار راضي نهٔ وهٔ اما د دهٔ بي صلاح خلیل د شهباز خان خلف چي بقیة السیف پاتو وهٔ او د صدر خان څوے نجیب ورغلهٔ د یوڅ کوڅ ئي وسهٔ. څو ورځي ئي په شابي خیلو په لاچي تیرې کړے. نور سرائ ته لاړل. هندو اجاره دار ئي په لاچي پریښ. د مغل عمل دخل په بولاقو جاري شهٔ. زهٔ له کورونو سره په څوتره داخل شوم. دا د څوتري سکان خو څوک نهٔ راتلهٔ مګر شائسته دوران باقي خیل چي د بهادر له نسله دے ښهٔ اخلاص ئي ظاهر شهٔ. د دیو په کلي په خونو کښي څائے ونیو. څو ورځي دا سکان نامدار ته امیدوار وو چي ګونډي مو وبولي څهٔ راکا. چي وپوهیدل هغه په مونږ غرض نهٔ لري ملک د مغل دے نور واړه ما لره په طریق د جرګي راغلل. د نمازدیګر نمازشام تر میان څلور سوه عالم راغے میلمه شهٔ. ناکام نارے مي ور کړ. سبا چي روانیدل طمع خامه ئي وه چي څهٔ به راکا. اما هیڅ ور کړهٔ نهٔ شول. پس له څو ورځو مي وبلل چي په طریق د جرګي ورشئ. له عبدالکریم خانه زاد سره د بولاقو سره معرکه وکانئ چي ملکیري وکا عمل د مغل پاڅوو. اخر معلوم شول چي کهٔ څهٔ راکا هاله به درومو. یو دیرش روپی مي دیو سکانو لره ور کړے. اخر ورغلهٔ هیڅ کار تري ونهٔ شهٔ. هغو څواب ور کړ چي پس ذ اوري فصل د اخستو به دا خبره وکړو. هرګاه چي فصل واخست شهٔ. صوبه دار یو چي واقف کار نهٔ وهٔ او بل بادشاه په هغه وخت هم معلوم په سبب د ډیر سپاه مغرور شهٔ. بد سلوکي ئي د پښتنانهٔ سره کوله هیڅوک ئي په نظر نهٔ راتلهٔ. ملکانو د افریدي ورکزي لکه سعید خان وغیره ته ووې چي په تاسو شد آمد قدیم په قلبه څهٔ شته هغه راکوئ. دوي ورته عرض وکړ چي دا په صلاح د اولس صورت نیسي. نور تري رخصت شول چي کور ته لاړل جرګه ئي وکړه. د دهٔ غرور ئي بیان کړ چي صوبه دار دا رنګ زر غواړي یا زر ورکول یا توره وهل. اتفاق ئي سره د جنګ [۳۴۹] وکړ. نور ئي لښکر وکړ راغلهٔ تاله ئي د علي مسجد ووهله. اکثر ومړل جزوي خلق خلاص شهٔ. مال اسباب ئي واړه لوټ تاخت تاراج شهٔ. پخوا تر دا چي د افریدي وګري د مغله سره مخالفت وشهٔ لا تاله ئي د علي مسجد وهلے نهٔ وه. خطونه ئي ما وته راستول چي زمونږ د مغل اعتبار پاتو نهٔ شهٔ کهٔ خان صاحب خود تشریف وفرمائي فهو المراد او کهٔ نه یو څوے دې راستوي چي زمونږ سره دې رفیق شي. نیکي بدي مو یو شي. کهٔ یو یو جوړښت د مغل سره کیږي اول د خان پسي زمونږ. او کهٔ نهٔ وي هم هر کار یو د بله په صلاح په اتفاق کوو. په دا مضمون محضر هم د تمام افریدي د ورکزي د

ملکانو د کدخدایانو په مهر راغے لیکن دي ما څۀ قصد د مغل د بدی سره نۀ وۀ. وې مې کۀ زۀ وړشم هره بدې چې وروړسي له ما به ئې گڼي. ور نۀ رغلم زۀ نۀ مې خوړے ورستوۀ منتظر ناست وم چې پردې له غیبه څۀ مخ ښکاره شي. په دا ورځو کښې احمد بیگ خان منگ باشي د کوهاټ فوځدار وۀ. د صوبه دار په اشارت ئې ما وته سړې راستول چې زۀ به دې تا د صوبه دار سره پیوند وکړم. ما هم نظر د دۀ په ډیره تقاضا توړے کوهاټ وته ورستوۀ چې دریافت د حقیقت وکا. توړے چې ورغے حقیقت ئې راته وکښ. خبره مې صورت پذیره ونۀ لیده. نور مې راوبالۀ القصه چې فصل واخست شۀ. صوبه دار دیرش زره روپۍ پیشکش په تړې بولاق مقرري کړے. په تحصیل د پیشکش فوځ د بنگښ ورسره لاچی ته راغے از حد زیاده سختي ئې آغازه کړه. خورم مکوړي وغیره وپوهیدل چې د رشې نه پس د سیني د وصوله وار په مونږ دے په دا سبب ما وته راغلل. راته ئې ووې چې د مغل د ښتانۀ وراڼے شوے دے مغل خاڼے په خاڼے وواهۀ شۀ. لکه مذکور ئې وشۀ. کۀ خان کمربندي وکا دا فوځ دلیه رواهۀ شي هم به مونږ له پیشکشه خلاص شو بل امید دے چې یو مخ پکښې ښکاره شي. او کۀ نۀ وې زاهوزاد به مو خرڅ شي. اګر چې کۀ زۀ پوهیدم چې دا کار هیڅ بنیاد نۀ لري لیکن چې په هغه سرزمین کښې وم لاچار د قوم د درنښت دپاره چې همیشه د ننگ و شرم دپاره د اولس د قبیلې کمربسته ولاړ یم. پاڅیدم لښکر کښې مې وکړه. محمد علي خان مې د فوځه سره پخوا راستوۀ. عاملان ئې د مغل له تیري وغیره پاڅول. په تخت دیره شۀ. درې ورځې پس زۀ هم پسې ورغلم. دوه شپې په تخت تیرې شوے. لښکر مې د څوترې او د درې د ساغرې د بهنگې (۱) خیلو راغوښتے وۀ. په فکر د دې چې لښکر ټول شي خبر به د لاچی د فوځ واخست شي. په تخت باندې ممکن څاڼے د استوګې نۀ وۀ. دیره مې و دریا خان کلي (۲) ته یوړه. صوبه دار چې و ماته همیشه په وسواس وۀ هر گاه چې خبر شۀ هراس ویره ئې ډیره شوه. نور ئې نامدار د فوځه سره راستوۀ لاچی ته راغے. د دۀ په راتلۀ د دغه اولس وار خطا لاس و پښې ئې سست شول. دې ما هم په دغه ملک وتنه نۀ وه خو د قوم د درنښت دپاره مې کمربندي کړې وه. بیا څوترې ته وختم نامدار یو له خوفه د صوبه دار دویم په واسطه د بعضې مفسدانو د بارکو له میره خانه [۳۵۰] مینځې وغیره فوځ د مغل ئې د یوټ په کوټ کښې پریښې. له خپله عالمه سره څوترې ته راوخوت. اګر چې ما څخه خپل پردے هومره جمعیت وۀ کۀ جنگ مې کولے د دوې خواب به مې کړے وۀ. لیکن په دور اندازی د بارکو مفسدانو پوهیدم. بل چې خانه برهشت شتر وم مصلحت مخ د جنگ نۀ لیدۀ. د لکی نه هم پاڅیدم کده مې په کرک پریښوه خود لتمر وته لاړم. نامدار یوه شپه په لکی وکړه نور

نګم

راوجاروت. يوټ تـه راغـے. په دا يورش کښې هر چې پښوا تر سيني پيشکش وصول شوے
وۀ بـاقي مـانـده نـور اولـس تـه پاتو شۀ. صوبه دار ورته ووې چې سائر د سرکار نور پيشکش
قـلـنـک دي تا په دا حرکت کښې دا هومره نفع نامدار او اولس ته ورسيده. نجابت خان ئې د
مـغـل د عـامـلانـو سره په لاچى پرېښ. سرائ ته راغـے د مغل په يوه ګونه خاطر جمعي له ما نه
وشـوه. نـامـدار ئ پېښـاور ته وبلۀ. چوتائي د سائر چې پښوا تر دا ئې ورکوله ترې ئې واخسته
قـلـنـګ زکات چې ئې ورته ورکړي وو هغه ئې هم ترې ضبطول. بلکې دے ئې هم قيداوۀ. دے
هم د مغل په بدنيتي وپوهيدو وويريد له هراسه په قصد د تيښتې وۀ تقدير الٰهي زوررور دے چې
پـه دا ميـان کښـې د کـمالزيو واړه راغلۀ. سوارۀ ئې په زړه مينه (۱) پسې شول پياده تر سينده
راپـورې وتـل نمانځۀ وخت سوريا خيلو (۲) څـخـه لې بادشاهي لار ووهله. دوه تنه د دوی ئې
مړۀ کړۀ نور پورې شول د سرائ د مصري بانډې چغه ورپسې د بدنامى دپاره کام ناکام ورته.
نـور خـانـخيـل هيڅوک سوارۀ نۀ شول. بلکې نور خلق ئې هم منع کاوۀ. يو بدرالدين د صدر
خـان اجـل رسيـده تـنهـا په ټټو سور په چغه لاړ وۀ د ميرې په سر پسې چغه ورسيده هغو ورته
ووې چې دې تاسو مو هيڅ راوړي نۀ دي مۀ راځئ. دوي ترې نۀ منع کيدل پسې تلۀ. کمالزي
پـرې راوجـاروتـل نـور واړه په يوۀ مثل راوتښتيدل. بدرالدين چې په ناپکاره ټټو سور وۀ پاتو
شـۀ پـرې ئـې وسـت. مړ ئې کړ. چې دا خبر سربلند خان ته ورسيد مرګ د بدرالدين سبب د
نـامـدار د نـجات شۀ. رارخصت ئې کړ چې ورځه بندوبست د شاهراه کوه. چوتائي ترې لاړه
قـلـنـګ زکـات ورپـاتو شول. اما نامدار او قبيلې ته نيت او احوال د مغل معلوم شۀ. وپوهيدل
چې ملک زمونږ نه لاړ کۀ د فلانه د لاسه څۀ وشي وبه شي او کۀ نه نه. په دا ورځو کښې اسا
خـان مـنـدڼ د ورره سـره پـه څـۀ کار معامله زيارت وته د شيخ رحمکار رحمة الله عليه لاړ وا
سـرائ تـه ورغـے. نامدار خان ئې هم وليد. دا حقيقت ورته معلوم شۀ چې پسته کور ته راغـ
وررور ئـې ما وته راستوۀ دا حال ئې راته بيان کړ. په تقاضا د دوي د ګفتګو مې يو خط خاص
نـامـه د عبـدالله خـان مشتـمـل په بندوبست د کار او يوه پند نامه علي العموم مشتمله په وعـ
نـصيـحت عبدالله خان ته راستول. دارنده ته مې تاکيد وکړ چې پټ ئې عبدالله خان ته ورسو
ليـکـن عبـدالله خـان پـه ښـادي پور وۀ له ناپوهی سادګی ئې نامدار ته ورکړه. نامدار خان چ
وليـدل چـې تحقيق دا خطونه د بهبود دي. قبيله ئې کۀ ووينې البته به عمل پرې وکا. ما وته
نقصان پيښ شي. خط او پند نامه ئې دواړه پټ کړۀ هرګاه چې وپوهيدم چې حال دا هسې ن
نـور مـې بيـا هـغـه پـنـدنامه د مطلوبې په لاس چې معتق آزاد کرده د خالد خان دے په څۀ ک
څوترې ته [۳۵۱] راغلے وۀ. عابد خان خالد خان ځمنو ته راستوله راورسيده. نامدار و قبي

تـه. واړه سـره مـطالعه کړه اګر چې وپوهيدل چې په تحقيق راستي او درستي لري عمل تري هيـڅ نـهٔ کيـدهٔ. هغه پندنامه دا ده: قوله تعالیٰ تبارک الله احسن الخالقين دا صفت د خدائے په حق د بنيادم دے چې الله تعالیٰ احسن د خلق پيدا کړ. په دوه صفته ئې په ظاهر پرې کړ. ايمان او عمل. ايمان عبارت له پيژندګلی د څښتن او متابعت ئې د امر. عمل اخلاق حميده اجتناب لـه ناپسـنـديـده. هر چې په دا کارونو کښې استقامت لري هغه مقبول درګاه الٰهي دے. آدمي زاده چـې هـر يک پـه قدر حال نصيبه له انصافه لري څو پکښې اخلاق حميده زيات سئيه کم هـومـره ئې مرتبه تر خدايه تر خلق زياته. (١) از آن جـمـلـه سر دفتر د حسنه د انصاف ورکول دي له خپله نفسه لکه چا وئيلي دي مصرع:

ما در بخطا ئيست کہ انصاف ندارد

د خپل مقصود دپاره کول څهٔ بل وئيل د بل د ملازمت دپاره څهٔ بل څهٔ بل. خويونه د بدی چې پـه قوم کښې منتشر شي لکه حرص فريبنده او طمع خام بخل شوم او ناراستي او حسـد مذموم پـه وجـود کـښـې د قوم له دې مادي مرض د فساد او د بې مهری او بې شفقی يو تر بله پکښې پيدا شـې او آزار او اضـرار رسـول و فـقـراؤ درويشـانو او بزرګانو ته د دين چې في الحقيقت نـائبان الٰهـي دي فسـاد د ديو کارونو څې تر حده د اعتدال ووځي په حق ناحق خونونه پکښې وشـي. هـر څوک سره کهٔ په حق وي کهٔ په ناحق وي له ځانه نه له خپلو جامو وترهيږي لاچار تـفـرقـه اختيـار شـي. پـه تفرقه د دوي هر چې دشمنان دولت د دې په قابو ناست دي. دا سره وائي بيت:

چې باید ہرا سپنت ز آن کسے　　　　کہ در خانہ دارد ز دشمن بسے

نور لاس د ظلم په مال په حال د دوي په جمعيت دراز کا. بيت:

چـې لـه لاده بـاده پـريوځي زميندار　　　　نور تعين پرې کروړي شي يا شقدار

په آوان د هر عامل چې دا مخ بنکاره شي دا وائي بيت:

بہ تازہ عاشقے اظہار مہربانی کن　　　　چو عشق گرم شود ہر ستم کہ دانی کن

دا دښمن چې مخ ئې په خرابی په زياتي وي يقين چې حلوا بې دوده او ګل بې خاره ئې موندلے وي مـخ بـه ئـې پـه زيـاتـي وي. نـقصان به د ګزشته نه روادار کيږي. او کهٔ پـه حسب تقدير په خائے د دې يو بل منسوب شي په اخذ مال چې يو تر بله د دې قوم هميشه سبقت وي يقين چې هغه به تردد لا زيات کا. بيت:

ستـــــرګـــې وغـــروه ګـــوره　　　　جهـــان څـــهٔ کـــا لـور د لوره

پـه تـفـرقه کښې د اربابانو کال په کال څهٔ ورځ د پښاور په عالمو ورغله. په دا صورت کښې

چې پلارونو نيکونو ئې وابنهٔ لرګي خرڅ کړي وي دوي هم چې د هغو له دولته په خشک و تر پرورش موندلی وي په لږ قانع وي. په وطن کښې په ښهٔ حال يا په بد حال تيروي. اما هغو عالمو چې په حکومت او نازونعمت په وطن کښې ساعت تير کړے وي هغو ته استوګه د وطن يا په سبب د عيب عار يا ترنه وتو د عهد د هغه کسبه استوګه د وطن ورته دشواره شي هر يو په خپله ښه پسې لاچار تفرقه اختيار کا. مقدمه د ترک يا سنبلو [۳۵۲] د جال په دا صورت خلل کلي وربيښ شي. په تجربه و آزميل شول هغه مردان نهٔ دي چې زر ورکوي مردان هغه دي چې هنر خرخوي زر ګټي تر بادشاه پورې تر چمياره. د وطن ښتن کهٔ په سپاه ګيری پسې پاځي هر چرته چې ورشي کهٔ په مخ ورته وئيل نهٔ شي پشې شا وائي چې کهٔ دا سپاهي وے خپل دولت خپل وطن به ئې ساتلے وهٔ. کهٔ په وطن کښې وي کهٔ بې وطنه وي چې بې دولت شي خويندې لونه ئې سپکې شي. اګر چې اوس ذوق د سرداری يا د وطن داری يا د هوا او هوس په دا سن و سال په خاطر ګرمي نهٔ لري. اما فکر د فرزندانو او د قوم د قبائل په زړهٔ سرول له طريق د مردی لرې ليدل شي. جماعه د خوشامد ګويانو چې د دغه لوريه راشي ارام د زړهٔ مو چې په کنج د قناعت ارام کړے دے بې ارام کا. د پښتنو متل دے چې ننګ د وطن او د خپلو خوېښانو له کوره هم پاځي کهٔ تاسو خوښ ياستئ خوشحال ياستئ صريح وکښئ چې مصرع:

غير نا ديدن تو هيچ پريشاني نيست

چې خاطر له مو ګفتاره د ياوه ګويانو پريشان نهٔ وي. دي تاسو ګټنه دي تاسو خوشحالي في الحقيقت خپله ده دغه ځائے هم واړه خپل خويښان فرزندان دي حسد پرې څرنګ کړے بويه. او کهٔ په موافق د نوبت وار د ګټنې زمونږ شهٔ هم دغه دي تاسې ګټنه به خوړله شي. د بل ګټنه به هيڅوک و مونږ را نهٔ کا. او کهٔ پوهيږئ چې په حسب تقدير ګټنه د دواړو تر ميان دريم ځائے ته شوه په ګرداب کښې د حسرت غوټې خوړل کار د کم همتو نادانانو دے د ديه باب به کهٔ په ما څهٔ ملامت وي چې تفرقه عظيم ليدهٔ شي زهٔ څنې باز ګشت يم. الحمد لله چې په حال د حيات دا مخ ښکاره شهٔ ملامت پس له ژوندون ډير قباحت لري. کهٔ په سهوه يا په خطا د چا په باب چې يا له خويښانو دي يا له قوم يا له رعايا يو فعل ناستوده له ما چا ليدلے وي يا واقع شوے وي په هغه ثابت قدم نهٔ يم. په بدو چې څوک ثابت قدم اوسي له راه راسته لرې وتل دي. يقين چې له راه راسته څوک لرې ووځي په کودرو به پريوځي. کهٔ په تاسو کښې له چا عمداً يا سهواً خطا واقعه شوے وي بائده دي چې پناه و حصن ته د راستۍ يوسي او په ناراستۍ کښې ثابت قدم مهٔ اوسئ. او انصاف له خپله نفسه ورکوئ چې ښنان د نيک

خوځ په دا کښې دے مصرع:

که هیچ نفس بشر خالی از خطا نبود

امید دے چې په برکت د راستي مشکل کارونه الله تعالیٰ اسان کا. ما هر چې څۀ ووي له خپله فکره مې وکښل تاسو هم په صلاح د وارو چې قوم وقبائل دي چې دوستان يا چې ما خوک دښمن ګڼي د خپل فکر له دانشه هغه چې بهتر ګڼي راته وکښئ. چې پرې پوه شو. عاقبت بالخير. القصه دوه کاله چې په لکۍ تير شول اکثر به شغل د کتاب له خپلو فرزندانو سره مشغول وم. ښکار د بازونو به هم ګاه ګاه. آب و هوا ئې ډيره ښه وه. سرې اوښۀ پکښې په هاړ په ښکال هر وقت موجوديږي. مياشي ورږې پکښې هرګز ليدے نۀ شوے. هسې خفګي او ګرمي لکه په دا ملک ده نۀ کيږي. په هاړ په ښکال اکثر په شپه څادر رضائي ته حاجت د پټيدلو پريوځي. ساړۀ ئې په ژمي ډير وي اما هوا ئې د [۳۵۳] ځناورو سره موافقت ښۀ لري. هغه رنځ بيماري چې د بازونو په دا ملک کيږي لکه سيه پيخال طعمه ګرداني په هغه ملک کښې هرګز وليد نۀ شوه. اما ښکار په هغه ګردونواح کښې کمياب دے. په تل کښې ښکار د ځاړې د تارو د تمخرۍ وغيره پرنده ډير دے. سوئ هم پکښې ډيرې شته. برخوردارانو به د ښکار دپاره په لتمرو په نصرتيو په نرۍ خوړه شپې کولے ښکار به ئې تل کاوۀ. چرغونه لګړ به ئې هم نيول. ښۀ ښۀ چرغونه په هغه ملک کښې وليدل شول. بلکه واړه چرغونه د هغه ملک ښۀ دي. بابښې به ئې هم د لوا په غرۀ کښې نيولے. د بازونو دپاره مې به خوست وته سړي راستول باز به ئې راوړل. د دې ملک نه هم يار دوست بازونه رارسول. پير محمد فاضل څلور دسته باز دوه جره د امازيو په ګرئ کښې دې ما دپاره واخستۀ يو پکښې ډير ښۀ ښائسته خوښ ترکيب کته باز وۀ. د صوبه دار تر غوړو چا خپلو پرديو صفت د هغه باز تير کړۀ. وې غوښت په تير صو روپيه ئې وپيرود برات ئې د تير صو روپو په شيخ مجاهد چې فوځدار د اشنغر وۀ ورکړ. اتفاقاً هغه شپه باز طعمه ګرداني وکړه. قوش بيګ ئې په عرض ورسول چې باز رنځور دے دا هومره قيمت نۀ ارزي. نور ئې شيخ مجاهد پسې وکښل چې کۀ دوه سوه پنځوس روپۍ اخلي باز واخلئ کۀ نۀ وي باز دې پستنه واخلي. پير (۱) غنيمت وشمارۀ وي وئيل چې باز دې ما هرګز خرڅون نۀ وۀ محض د نواب د خاطر دپاره مې ورکړے وۀ. پستنه ئې واخست. باز تازه طعمه رد کړے وه روغ جوړ شۀ. څلور واړه باز جره سره ئې خوترې ته راوړۀ. هم په دغه ورځو کښې له خوترې نه خورمو ته راکوز وم لکه دا مذکور به په تفصيل بيان ئې په خورمو کښې له هغو نورو بازونو سره تيار شۀ. نهايت ښۀ والوت. په هغه کشمکش کښې د لښکر په چختو (۲) کښې خائے نشست ګاه د ځناورو نۀ وۀ د نورو واړو

خنـاورو سـره مـكهـډ تـه واستـوۀ شۀ. په لار وشليدۀ په مكهډ كښې ومړ. پس له دې تردده باقيمانده څناور په سبب د شدت گرمی د مكهډ نه راوغوښتل شول په خوړوبي (۲ الف) كښې د كـريـز دپـاره كـښـنـول شول. هرگاه چې زۀ بيا د شويكي (۲ ب) نـه پـه قصد د پـښاور د تلو راروانيـدم پـه لاچـی كـښې مې پرېښول. پس له داخليدو په سراۓ سرې مې واستول را وۀ مې غوښتل القصه هرگاه چې زۀ په څوتره وم ضبط د محصول د مغل و اجاره دارو ته په هيڅ وجه نـۀ كيـدۀ. مغل هم په حقيقت كار وپوهيدۀ. ملـک ئې د ترې د بولاق په دوه صوه روپۍ درې مـاهـه نامدار ته په اجاره ورکړ؛ هرگاه چې د مغل پښه له مينځه وختته. نور مې فرصت غنيمت وشـمارۀ د باركو سپين ږيري ملكان مې توكه توكه تپه په تپه راوبلل. جرگه معركه مې ورسره وكـړه چې پـخـوا تـر دا مـلـک د مغلو وۀ هيڅ مې نۀ وئيل اوس چې د نامدار شۀ څۀ صرفه. د مـلـک څښتن زۀ يم.. تر نيلاب هغه خوا ملک څو سربلند خان په دا ملک پښاور كښې دے خـود ورته پاتو دے. تر نيلاب راهسې دې غرض نۀ لرې. وارو راسره په دا باندې اتفاق وكړ افـريديو ته مې هم پخوا تر دا سرې[۳۵۴] راستولي وو. جرگه معركه ئې د اتفاق راسره كړې وه. په دا هسې وخت په غره د ربيع الثاني سن زر سل ديرش خبر د صوبه دار د تغير هم راغے تـانـه داران فوځداران ئې له تانه جات محالات نه ځان ته وبلل لكه اشنغر، كوهاټ. د كوهاټ فـوځدار تاخت شبگير وكړ. شباشب په سنډه بسته پښاور ته ورسيد. فوځدار او فوځ د اشنغر له گړی ووت مهمندزي پسې راووتل تر سينده په بد حال راپورې شول. جزوي ومړل. اكثر په بد حال خلاص شول. د دوآبې په لاره پښاور ته په بد حال راغلۀ. اسباب لټ پټ ئې تاراج لـوټ شۀ. (۱) تـفـصـيـل د سـربـلـنـد خان د تغير دا رنگ دے چې درې مياشتې كم درې كاله سـربـلـنـد خان صوبه دارې د كابل په تمامه بدسلوكی وكړه چې سيد حسين علي خان ئې مړ كړ. سيـد عبدالله خان ئې دستگير كړ محمد شاه دهلي ته راغے لكه دا مقدمه په خپل ځائے پا تفصيل مذكور شوې ده. (۲) پـخوا بادشاهي نۀ وه. سربلند خان هم په خپل ځان پوهيدۀ خود پـه پښـاور كښـې پـاتو شۀ. ځوے ئې كابل ته واستوۀ. دۀ عرضداشت بادشاه ته په دا مضمو وكـيـښ چې كۀ حكم وي ځوے په پيښور كښې پريږدم زۀ به شرف اندوز ملازمت شم. فرما لـه حضوره ورته راغے چې بهتر دے. ځوے پريږده تۀ راشه. نور ئې بې موسمه له كابله راطلب كړ. چې ځوے ئې په خيبر راغے مهمندو شنواريو طلب تنخوا مونډلے وه جزوي زر، د نور ئ هـم تقاضا وكړه. دۀ ور نۀ كړه مخالفت ئې سره وشۀ. نور ئې شيخ مجاهد او عبدالرحيم بيگ خـان وغيـره جماعه داران په طريق د جرگه معركه ورستول چې جماعه داران ورغلل دۀ په د مينځ كښې كوچ وكړ. چې د دۀ د كوچ خبر پښتنو ته ورسيد يو د بله ئې ووې چې مغل په دا

هنر خان تير كړ. جماعه داران ئې واړه دستګير كړهٔ نور ئې هله پرې وكړه لارې ته د خيبر راغلـهٔ. خبر د جـماعه دارانو د دستګير كيدلو چې ورته راورسيد شكست پرې ګډ شهٔ. بې حسابه ئې مغل مړهٔ كړهٔ. مال ئې همګې تاخت و تاراج كړ. څوك د دهٔ له هاتې نه كوز په اس سو. شهٔ هغه اس هم په توپک وويشت شهٔ. پياده روان شهٔ. يوهٔ سپاهي اس ور كړ سور ئې كړ پـه‌بد حال خلاص شهٔ. پښاور ته راغې انواع انواع اولجه لوټ د پښتنو په لاس كښيوت. نور ئې بيـا دا صـورت عرضداشت كړ چې څوي ته مې دا رنګ واقعه په خيبر كښې ورسيده. كهٔ حكم وشي زهٔ چند ګاه موقوف شم. چې بندوبست د دې سرزمين وكړم پس له هغه به حضور ته درروان شم. بادشاه ورته استماله وكښه چې د دغه عالم له لاسه مدام دا هسې واقعه مونږ ته رسيدلې ده مضالقه نشته تهٔ بندوبست وكړه هاله راځه. نور ئې افريدې وركزې طلب كړهٔ چې مهم د شنوارې مهمندو وكا. جوش خروش ئې ډير وكړ ليكن د دهٔ كار ورځ په ورځ په تنزل وهٔ (٣) هيـڅ صـورت د كـار تـرې ونـهٔ شـهٔ. نـور ئـې عـالـمان تر مينځه كړهٔ ور ئې ستول چې بـندوبـسـت د لارې وكـا. تـانـې دې كښيـنـوي. او مال چې لوټ شوے دے هغه دې راكا. او ارغمل دې هم راستوي. مهمندو شنواريو ورته ووې كهٔ طلب راكوې تانې دې كښينوي لارې دې جارې كا او مال چې تاراج شوے دے تار په تار خلقو يوړ تهولول [٣٥٥] ئې محال دې. او د ارغـمـل پـه دهٔ اعتبـار نهٔ لرو. كهٔ په دا صورت روزګار كوې بهتر او كهٔ نه هر چې د دهٔ رضا هـغه دې كا. هر ګاه چې دا كار ئې صورت پذير ونهٔ ليد نور ئې بيا عرضداشت وكړ چې څوك دې زما په ځائے نصب شي. زهٔ دې حضور ته طلب شم. بادشاه ووئيل چې د دهٔ څوك قابليت د دې كـار نهٔ لرې. خود دې دغه بندوبست وكا كابل ته دې لاړ شي. آئنده كال به بل صوبه دار ورشـي دے دې بيـا هـالـه حـضـور ته راشي. دهٔ عرضداشت وكړ چې بې زرو بندوبست د دې مـكـ نـهٔ شـي. پـرګنه جات بابت مخارج چې په ځلويښت لكه روپى ما وته تنخوا شوي دي اوهٔ لـكـه روپـى پـكـښـې كمې شوي دي. يا دې پرګنه جات خالصه شي ما وته دې نقد حكم شي يـا دې اووهٔ لـكـه روپـى بابت د كمې چرته برات راكړ شي. د اوو لكو روپو برات ئې په لاهـور وركړ. په لاهور كښې خزانه نهٔ وه برات د دهٔ وكيل ته پسته ورغې. وكيل عرض وكړ چې پـه لاهـور خزانه نشته كهٔ بل ځائے برات حكم شي بندوبست د هغه ځائے بې زرو نهٔ شي. ورځ په ورځ خلل ډيريږي. (١) بادشاه وفرمائيل چې دهٔ اول څهٔ وكړل چې اوس به وكا. درې كالـه چـې دهٔ زر اخستـې دې كـابـل ته ختلے نهٔ دے. پښتنو ته ئې څهٔ وركړې نهٔ دې بادشاهي عالـم هـم تـنـخـواه مـوندلې نهٔ ده. هم په هغه زرو دې كابل ته لاړ شي. په دا مينځ كښې نظام الملک چې ديوان اعلیٰ دے له دكنه حضور ته راغے. نظام الملک ورته وكښل چې صلاح

دې تا دا رنګ وه چې ته يو ځل کابل ته وخيژې هاله به حضور ته راځې. ګفتګو ئې سره په دا باب ډير وشۀ. الغرض بادشاه زر نۀ ورکول هغه پخوا زر د دۀ نه په ډير سپاه خرڅ شوي وو بې زرو کار نۀ کيدۀ. اخر تغير شۀ.

القصه په هغه آوان نجيب د صدر خان د تيري فوځدار په شاهي خيلو کښې وۀ نور مې سرے ورته راستوۀ چې صوبه دار تغير شۀ تۀ به تر مونږه لا بنۀ خبر وے کۀ پس و پيش نيت د دې طرف لرے رادرومه. ګزشته تقصيرات دې معاف او کۀ نۀ وي درومه. هرګاه چې صاحب دې ځۀ کا بيا تۀ هم ورسره صرفه مۀ کوه. دے بۀ ماته راتلے شۀ نۀ بې عذره پاڅيدۀ. نور مې محمد علي خان د سورو سره راستوۀ نجيب وتښ په بدحال په ډيره تصديعه خلاص شۀ. اسباب ئې پاتو شۀ په لاچى کښې اسد د نصرت خان وۀ په هغۀ ورځے له حقيقته ئې خبر کړ. دواړه سره لاچى ته په تيښته روان شول. محمد علي خان ډير فوځ دسورو د دريا خان په کلي کښې د محمد حسن خان د اسدالله خان سره پريښ. خود د څو سورو سره دوي د وړاندې دے ورپسې تاخته شباشب جمو ته د افريديو راغے. زۀ هم څو وخته پس پسې راغلم د خورمو سره مې جرګه معرکه وکړه. ځائے د استوګې مو د چندګاه ګزران دپاره خوړوبے مقرر کړ. کله مې راپسې راوغوښته. څوارلسم د ربيع الثاني سن مذکور کله هم خوړوبې ته راغله. وخت د پسرلي وۀ ځايونه د استوګې هم هسې فراخ نۀ وو دغه ځائے ئې خود چند روزه ګزران دپاره مقرر شوے وۀ چې حقيقت د صوبه دار د کوچ معلوم شي زياتي اسباب مې مکهډ ته واستوۀ. جريده[۳۵۶] له کلې سره منتظر ناست وم. جرګه د افريديو په قرارداد سابق محمد علي خان له جمو نه راستوله. ډيره الحاح تلوسه ئې دې ما د تلو وکړه اما هغۀ ملک هغه اولس هسې خوشي پريښول مصلحت نۀ وۀ. اخر په دا اقرار وشۀ چې دوه ځامن د خان صاحب راسره کاندې چې په ژواکي بل په کليو کښې پريوځي چې د دواړو تپو ننګ شرم شريک شي. له خپلو کورونو سره اسدالله خان راسره يو څو کوره د خانه زادو لکه مخلص خان د عبدالکريم کور په خوړوبې پاتو شوم. نوره تمامي کله مې د محمد علي خان د محمد حسن خان د افريديو جرګې سره افريديو ته واستوله. اسد خان د يحيىٰ خان نمسے هم په دغه ورځو کښې څو اسه ورسره په نيت د لاهور د تلو د مکهډ په لارې راغے ورته مې ووې چې دا زمان اس په لاهور کښې ډير ارزان دې ملک مې واړه ګډوډ درهم برهم دے تلۀ د بهبود مصلحت نۀ دے .د محمد علي خان سره مې جمو ته راستوۀ. محمد علي خان له ډيرې کلې سره په جمو کښې ځائے د استوګې مقرر کړ. محمد حسن خان ئې د څو کورونو سره کليو ته واستوۀ کۀ هرګز مې قصد د مغل د بدى په خاطر نۀ وۀ بارې د مغل د پښتانۀ شوربا زۀ وم واړو

راته وئيل چې فلانه لوے زميندار پخته سردار دے. په دا سبب هميشه صوبه دار له مانه په هـرس پـه وسـواس وۀ. هـر ګاه چې په دا احوال خبر شۀ علي الخصوص په دا وخت چې تغير شـوے پـه قـصـد د حضور د تلو وۀ. او د پښتنو نه ئې دا هسې واقعه خوې ته رسيدلې وه. ويره وسـواس ئـې يو په لس شۀ چې ورکزي د دۀ نيانه (۱) پـه افـريديو کښې ئې خامن کښيناستل. خود پـه تـري بـولاق مبادا کۀ سد راه مې شي. هم دلته به په پښنور کښې ډوب تاخت تاراج شم نور ئې پونصو سوارۀ يوسفزي راوغوښتۀ اميدوار ئې د نوکرۍ کړۀ. يو روپۍ ئې د سوارۀ پـه سـر مـقـرر کـړه. نيمه روپۍ به ئې روزمره ورکوله. نيمه روپۍ به ئې په سرکار کښې باقي پاتو کيده. چې دا به په وار سره په يوۀ ځائے تولې درکړم. القصه نور ئې نامدار پښاور ته وبالۀ ورته ئې ووې چې اوس څۀ فکر لرے. دۀ ورته عرض وکړ چې فلانه په تري بولاق خامن ئې په افـريـديو کښې دي. فوځ دې راسره جکم شي او لس پنځلس زره روپۍ دې ما وته مدد خرڅ عـنـايت شي چې له دغو ځايونو پاخول شي ګنه هسې فساد به برپا کا چې علاج به ئې ونۀ شي. پـه صـوبه دار دا خبره بدۀ ولګيده په غصه شۀ ورته ئې وې چې هغه اول چې دې هومره خبرې کـړو زياتې کړے وے واړه دې د دروغو يو پيوند سره نښلولے وۀ او دا هسې پکار سړے دې زمـاد لاسـه ويـوست. دې تا د ملک نه ماته هيڅ سود بې له زيانه را ونۀ رسيد. په دا مدت سه سـالـه کښـې پينځۀ ديرش زره روپۍ ما وته رسيدلې دي هغه مې هم چې دوه ځله فوځ درسره کـړ پـه هغه دې خرڅ کړے. اوس بيا دا خبرې کړے نور زيات بد رد ئې ورته ډير ووې او وې وې چـې الـيـا زره روپۍ پيشکش تا قبولې کړے وے پينځۀ ديرش زره راورسيدلے لس زره مې دربخښلے پينځۀ ديرش زره راکړه. نور تا زده دې تا ملک ګنه دا دې د فلانه خامن په افريديو کښـې نـاسـت دي. سـعـيـد خان ورکزي ته به اوس ووايم چې را وې بولي دست ګرفته به دې ورکـړم. چې ګردن دې ووهي کۀ په هيڅ رنګ هغه نۀ رادرومي هاتي ته به دې واچوم. نامدار چـې جبن بې دلې(۲) د دۀ جـبـلـې وه وارخـطـا ګـونـه وهـلـے لرزه ئې په اندامونو پريوته له هغه راووت. [۳۵۷] کـام نـاکـام ئـې پيـنـځۀ ديرش زره روپۍ قبولې کړے. وجه نام مطيع الاسلام بـاشـنـده د نوښهر ئې ضامن ورکړ. نور ئې فوځ د يوسفزيو د سورو ورسره په ميعاد د پينځلسو ورځو لاچې ته راروان کړ چې کۀ پينځلس ورځو کښې دې فلانه له لاچې نه پاځوۀ بهتر خرڅ د فوځ منظور دے ګنه بيا تاوان. زۀ هم چې په حقيقت واقف شوم وۀ مې وې چې تر کومه به زۀ مـخ ځـنـې جـاربـاسـم او تګ و دؤ بـه له لاچې تر ځوترې کوم. دوه ځله له تيرې په جنګ و جـدلـه پـاځـيـدم. يـو ځـل په ځوتره راوختل هورته مې هم اغماض وکړ نور مې اسدالله خان له کډې سره ساغرې بهنګي خيل ته واستوۀ مخلص خان مې هم ورسره روان کړ چې اسد الله

خان د کلي په خصمانه په چشمې کوټ پاتو شي. او سپين ږيري ملکان د ساغري بهنګي خيل دي په طريق د جرګې معرکې د دهٔ راستوي چې سره مصلحت وکړو. سرې مې ځائے په ځائے د بارکو سپين ږيريو ملکانو ته هم واستول. هغه مې هم راوبلل کتل مې چې وګورو نامدار چې په ښادي پور راشي حقيقت به ئې معلوم شي. چې فکر د محمد علي خان د پاڅولو له افريديو لري. کهٔ وړاندې راتير شي محمد علي خان ته مې خط واستوهٔ چې کهٔ قصد دې تاسو د پاڅولو د دغه ځايه لرې زهٔ به د لښکره سره له دې طرفه درشم او کهٔ په دا لور رادرومې هرګاه چې تر تاسو راتير شي تاسو له خپله جمعيته افريدي درسره په خوړه تاخت وکانئ. خورم مې هم د ککي د سوډهل په طريق د سنګر خانه کوچ راوبلل. نامدار چې په ښادي پور راغے د دوې روځ ګردان لاچي ته رااروان شهٔ. په دا سبب چې بعضې مفسدانو به لکه ميره خان مينځي اسدے خورم مير ګلے خط ورستوهٔ چې دې تا راتلهٔ د فلانه پاڅيدهٔ. په هغه خط پيغام غلط وهٔ هرګاه چې ګنبتي ته راغے هغه ورخ محمد مخلص چې ساغري بهنګي خيل ته لاړ وهٔ د سل شل خوانانو سره کم و زيات راورسيد. بارک هم چې رابللي شوې وو راغلهٔ د ککي د سوډهل خورم هم څوک رارسيدلي وو څوک راتلهٔ جرګه معرکه سره وشوه. قرار داد په دا وشهٔ چې سنګر په چختو لښکر هم راغوښتے بويه. نور مې په طلب د لښکر سرې واستول کډه مې خوړوبي نه چختو ته روانه کړه. خود هم پسې شپې ته چختو ته ورغلم. نامدار لاچي ته راغے. نجابت خان وغيره څو سوارهٔ ئې خورمو ته راستول. هر چې دهٔ په خپل فکر تصور کړے وهٔ هغه مخ ښکاره نهٔ شهٔ وپوهيد هغه طرف زهٔ دا لور صوبه دار هسې حيران شهٔ. اسد الله خان د ساغري د بهنګي خيلو د لښکره سره په ښهٔ وخت راورسيد. نور لښکر هم د بارکو چې رابللے شوے وهٔ هم راغے. شپه تر ميان درې څلور زره لښکر کم و زيات جمع شهٔ. محمد علي خان و افريديو ته د تاخت دپاره په خوړه باندې په موجب دې ما د خواب ډير ځهٔ ووې. يوه دوه وخته ئې ورته انتظار وکړو د هغو نه هيڅ نهٔ کيدهٔ هرګاه چې وپوهيد چې هيڅ نهٔ کيږي نور ئې محمد حسن خان د څو کسو سره په جمو پريښى د خپلو سورو پياده ؤ ئې شبګير وکړ د مالکين په غاښې راوخوت راغے. نامدار هم په تخت د لښکره سره راختلے وهٔ د غرهٔ په لمن کښې ئې اړولے وهٔ. د ساغري د بهنګي خيل رضا وه چې شبخون پرې وکړو. يوسفزي له نوره لښکره سره ځهٔ خو[۳۵۸] کناره دي وبه ئې وهو. فکر مې وکړ چې خپل پردي خلق جمع دي مناسب نهٔ دې منع مې کړهٔ. ورته مې ووې هرګاه چې هغه غليم په راتلو دے ځهٔ فائده پرې ورتلهٔ خو د قصد زمونږ د پاڅولو لري. سبقت نهٔ بويه. نامدار هم وپوهيد چې حال دا رنګ شهٔ. نور ئې پيران تر مينځه کړهٔ عاجزي ئې راوړه چې زهٔ له مغل نه ډيره

ملاحظه لرم کۀ هومره وشي چې يو سړے په لاچی ډېرېږدم چې دې ما به تر مغلو پورې عذر وشي. هر ګاه درنګونه د مالګو په خورمو کښې پاس وو لار هم پاس وه په تش ناستي د يو سړي په لاچی کښې نقصان هيڅ نۀ وۀ. د پيرانو له مخه مې قبول کړ. نور ئې نجابت خان په لاچی کښې پرېښ سرائ ته لاړ. په وخت د تخت د راختو محمد ديدار ئې د خلقو د رابللو دپاره شابي خيلو (١) تـه راسعولے وۀ. هغه نابود د مغل د فوځ د ويرې ما وته راتلے نۀ شو. دې ما له ملاحظې نامدار ته هم نۀ ورتلۀ. کتل ئې چې وګورو څۀ پېښ شي. پس د نامدار د جاروتو سرائ تـه محمد علي خان مې د ساغري د بهنګي خيل د لښکره سره شابي خيلو ته روان کړ چې دورې د تيرې د عالمو سره جرګه وکا رجوع ئې کا. هر څوک چې سر پيچي وکا علاج ئې وکا. د دۀ اميد وۀ چې محمد ديدار به و مخې ته راشي. او د دۀ چې د محمد علي خان د نغارې اواز تر غوږو تير شۀ هيبت زده په شاتورې اس سور شۀ. په تيښت لاړ. محمد علي خان تـه دورې د تيرې خلق واړه راغے جرګه ئې راوسته. نور وجاروت راغے، محمد ديدار چې د هغۀ نه روان شۀ د شيخ الله داد په زيارت راغے محمد حسن خان چې په جمو کښې پاتو وۀ د څو سورو پـليـو سـره زيـارت ته ورغلے ناست وۀ چې ناګاه محمد ديدار د څو سورو سره په زيـارت راغے. د کـلي خلق ورغے محمد ديدار ئې د زيارت د راتلو منع کړ او د محمد حسن خـان د نـاستي ئې خبر کړ. د دۀ اعتبار نۀ کيدۀ چې ګوندې خلاف وائي منع نۀ شۀ. چې محمد حسن خان خبر شۀ کمربسته مسلح ناست وۀ اس تيار وۀ زر سور شۀ مخې ته راووت. محمد ديـدار وغيـره پـه مـجـرد د ليـدلـو مـخ پـه تيښتـه ونيـو. امـا په قابو وو خلاص نۀ شول. پسې راورسيدل. اسونه وسلې ئې ترې راونيوے. عبدالجبار د خليل حسن خيل څوي اس نۀ ورکاوۀ څۀ شوخي ئې وکړه. د محمد حسن خان خانه زاد بيا زخمي کړ. بيا د شيخ الله داد څوے شيخ کـريـم داد ورتـه روئيـدار شـۀ هـر څـۀ چـې سره ئې د هغۀ په مخ بيا ورکړۀ. څو وخته پس مې محـمـد علي خان جمو ته واستوۀ. زۀ په چختو وم. سربلند خان چې په دا احوال خبر شۀ نور ئـې سـعيـد خـان او جهان وغيره ملکانو د ورکزيو ته ووې چې فلانه په ترې بولاق خامن ئې دا دې په افريديو کښې کښيناستل فکر ئې د پاڅولو بويه. دوې ورته ووې چې مونږ تابع د حکم يـو هـر چـې امر وې په هغه مو عمل. اما چې اوس په اولس کښې راغلل کښيناستل پاڅول ئې بې زوره محال دې. فوځ ته دې حکم وشي مونږ هم ورسره. هر چې خدائ کا هغه به راپيښ شـي. امـا هسې پوهيږو چې هر ګاه په صلاح د اولس راغلے دے فساد به ډير وشي. صوبه دار ووې پـس فـکر څۀ بويه؟ دوې عرض وکړ چې هر چې نواب وفرمائي هغه به صواب وې او کۀ مونږ پوښتے هر چې په خاطر رسي په عرض به ئې ورسوۀ. وې فرمائيل کۀ تاسو تر ميان شئ

راېه شي؟ دوې ووې په هېڅ وجه رالئونې نۀ دے. نۀ په خان نۀ ئې ځامن. او قصد د بدی د فساد هم نۀ لري خو د ملک دعوې لري. صلاح هسې ده چې دلاسه ئې شي وې فرمائيل [۳۵۹] چې بهتر پروانه به د ترې او بولاق ورته ورستوم. هورته ته دې ناست وې تر هغه چې اعتبار ئې کلي حاصل شي هالۀ دې بيا و ملازمت ته راشي. د دۀ خوړے دې د افريدي د ورکزي د لښکره سره کوه دامن ته راشي عبدالرحيم بيګ خان چې په جمرود کښې کاروبار د پښتانۀ د دغه سرزمين تعلق په دۀ وۀ له پينځو سورو سره به ورشي وبه ئې ويني. سروپاۍ به ورکا ملک د غرۀ درومي او تاسو دواړه اولسونه د فعل ضامن شئ. په دا قرار داد هاشم نام د عالم خان افريدي نمسے ئې په طريق د جرګې راستوۀ. حقيقت ئې واړه راته بيان کړ. فکر مې وکړ چې لښکر د افريدي د ورکزي به تر کومه راسره وي دا خبره صورت پذيره نۀ ده. بلکې افريدي ورکزي تر ميان شي خپل خاطر نښان دې د مغل نه حاصل کا. زمونږ د فعل دې ضامن شي. نور قصد د بدی د صوبه دار سره هيڅ نۀ لرو. بلکې هفت پښته دولت خواه يو. محمد حسن خان دې ملازمت وته د نواب ورولي. سروپاۍ دې ورکا. فوځ ورسره ملک ته دې ئې رخصت کا. نور مې يوخط عبدالرحيم بيګ خان وته وکيښ. بهوانيداس مې د هاشم سره د تحقيق او تفحص احوال دپاره جمرود ته واستوۀ ډيرې روپۍ مې هم هاشم ته ورکړے. محمد حسن خان چې په کليو کښې وۀ قچره ئې هاشم خان ته د سوارۍ دپاره په طريق د رعايت ورکړه چې د جمرود نه ئې پسته راستوه. هغۀ کوته انديش قچره ستنه نۀ کړه. تيراه ته ئې بوتله ما هر څو خوابونه ورستول نۀ ئې راستوله. هرګاه چې زۀ پښاور ته د ګنج علي خان د ليدو دپاره ورغلم لکه دا بيان به په خپل ځائے راشي سرے مې سعيد خان ته ورستوۀ په بد رنګ ئې ترې واخسته. راۍ وسته. القصه چې بهوانيداس جمرود ته ورغے عبدالرحيم بيګ خان په بنهر کښې صوبه دار څخه وۀ هغه خط ئې ورستوۀ. عبدالرحيم خان بجنس هغه خط د نواب تر نظره تير کړ. او په عرض ئې ورسول چې د فلانه سړے په وخت په موجب د قرار داد راغلے دے په جمرود کښې ناست دے هر چې حکم. خط ئې ولوست. متحير شۀ ارمان ئې دې ما د ليدو ډير وکړ. د دۀ تلۀ جزم وۀ از روئے مصلحت ئې صريحاً وفرمائيل چې لس وخته دې راته وګورې. کۀ زۀ په دا ځائے بحال وم بنۀ به ورسره وکړم او کۀ نۀ وي خير. حقيقت ئې راته وکيښ. نور مې وبالۀ پس له هغه مې نجابت خان ته سړے ورستوۀ چې تۀ مې به لاچې کښې محض د پيرانو له مخه د څو ورځو دپاره پريښے وے اوس صوبه دار تغير عزم جزم د حضور د تلو لري تۀ به لا بنۀ خبر وے کۀ وړاندې وروستو تلونے ئې رادرومه کۀ نۀ وي پاڅه درومه. په پاڅيدل کښې ئې هم سستي کوله ماته هم راتلے نۀ شۀ. نور مې تورے د دريا خان

کـلي ته واستوهٔ جرګه معرکه ئې د خورمو سره وکړه. سینیو ته ئې خواب واستوهٔ په اول چې فوځ د مغلو ورسره وهٔ دې تاسو هم عذر وهٔ اوس چې تاسې تنها ځهٔ کوئ دا ښهٔ نه. لتاړ به شي. د هغو هم رضا هسې وه چې کهٔ زمونږ يو.عذر وشي چې وړاندې وروستو خواب شي. اسد الله خـان او تـوري مې له خپله جمعیته د خورمو مکوړيو د لښکره سره ورسټول. په تاریخ د سلخ شعبان سـن مـذکـور ئـې نـجـابـت خان له لاچي پاځوهٔ. وخت د ګرمی وهٔ رمضان هم په سر رسيـدلـے وهٔ د چـختـو ونـې اوبـهٔ کـمې وے. د رمـضـان د ګـزران دپاره د پیرانو نه ئې ځائے وغوښت د اوبو د سیوري دپاره له کوررونو سره په سلخ[۳۶۰] د شعبان شویکي (۱) ته راغلم. پـه شپږم د رمـضـان خـطـونه د سلطان مبارز خان ګهکړ او د سعید خان ورکزي راغلل. په دا مـضـمـون چې په شپاړسم د رمضان کوچ د نواب سربلند خان و هندوستان ته مقرر شهٔ صوبه داري د کـابـل پـه نـامه د نصير خان د ناصر خان د ځوي مقرر شوه او نیابت د پښاور په نامه د ګنج علي خان شهٔ. تاسو ته هم فکر د راتلو خپل ملک وطن ته کړے بويه. کله د اسدالله خان د چشـمـی پـه کـوټ وه دا ځـائے چې زهٔ وم ځانګه هيڅ نهٔ وه محض د رمضان د تيرولو دپاره ساسـت وم. د ګـرمی هم ډير شدت وهٔ وړوکي هلکان مې په ځائے پرېښول مناسب نهٔ وو خود بـالـو شـوم. مـحـمـد اشرف چې راسره وهٔ مخلص خان ورسره پښاور ته مې روان کړ. محمد عـلي خان چې په جمو وهٔ قبيلې د اولس د ملکانو خوابونه خطونه ورته راتلهٔ چې کهٔ په تلوار يو دست برد وکړم بارې منع مې کړ چې تلوار پکار نهٔ دے. کتلے بويه چې نامدار د صوبه دار ځهٔ مـحبـت وليد شي. اغلب دا دے چې ويساه به پرې ونهٔ کا غير حاضر به شي. په دا سبب چې ديرش زره روپـی پـه دهٔ بـانـدې وجـه پيشـکـش مـقرر شوې دي. او لکه ګمان وهٔ هم هغسې وشـول. هـر ګـاه چې صوبه دار د پښاوره پيشخانه وويسته نور ئې سرې پرېښې کله ئې غرهٔ ته روانـه کـړه. پـه ډنډنګ ئې واړول خود په تمام وسواس هراس د ډنډنګ په دره کښې کله يو ځـائـے کله بل ځائے ګرځيدهٔ. شپه ورځ ئې تيروله. عبدالله خان په طلب د اخلاص او د نامدار خـان د مـخـالـفـت کـله پـه شابي خيلو واړوله. نوره کله د قبيلې لکه برادر عزيز محمد خان وغيره دوړانو (۲) تـه لاړل. لـه يـوهٔ طرفه وسواس د مغلو له بله لوريه ويره زمونږ په بلا ګرفتار شهٔ. چې سربلند خان په نوښهر راغـے کله ئې د ډنډنګ د سرور ميلې ته بوتله خود هم ورسره مبلې تـه لاړ. مـحمد اشرف ځو ورځې د محمد علي خان سره په جمو کښې وهٔ. پس له هغه چې صوبه دار له پښاوره کوچ وکړ هاله دلې تورے ورسره پښاور ورته ورغـے. يو خط مې هم دعرض احوال ګنج علي خان ته او عرضداشت د مبارکبادی مې صوبه دار ته کښلے وهٔ. خط ئې ورکړ عرضداشت ئې کابل ته واستوهٔ. د رمضان په اخر مې اسدالله خان له چشمی کوټ

نه طلب کړ. راغبے د اختر په ورځ د کلي سره جريده راروان شوم. اسباب مي پريښ. سوډهل ته راغلم. خود په سوډهل پاتو شوم اسد الله خان مي د کلي سره کړ جمو ته مي واستوۀ. چې کله ورسوي نور پسته رادرومي محمد علي خان له تمامي کلي سره پخوا د دوي تر ورتلو کوهي ته د افريديو (۳) لاړ وۀ. دا کله ئې هغه خائے پريښوه اسباب چې په شويکي (۴) پاتو وۀ سري مي ورستول راې وړل هغه هم جمو ته په کلي پسې واستوۀ شۀ. خود د اسدالله خان د کلي دپاره په سوډهل کښې ناست وم. تورے چې د محمد اشرف سره پېښاور ته استولے شوے وۀ راغبے. چروانه ئې د گنج علي خان هم دي ما په طلب له پېښاوره سوډهل ته راوړه اسد الله خان چې راوجاروت وا مي ستوۀ چې په تعجيل تمام کله له چشمي نه راروانه کا رادرومي بعضي اسباب مي هم له مکهډ نه د دۀ سره راوغوښت هرگاه چې مالکين ته راورسيد بارگير او مرکب تازه مي ورستول. نور مي له هغۀ نه شبگير وکړ يوه پهر شپه پاتو وه چې د گنډيالي په خلۀ رانوتو په شنۀ ډنډ (۵) باندي [۳٦۱] ارام وشۀ. سبا جمو ته راورسيدم. دوه شپې مي په جمو تيري شوے په دريمه ورځ په وخت د نمازپښين کوز راسور شوم کوهي ته راغلم کلو ته اسدالله خان پاتو شۀ. راپسې ئې راروانې کړے. پخوا دي ما تر رسيدلو د قبيلې خلق لکه برادر عزيز عبدالله خان د يحيىٰ خان، مير سردار د عابد خان، شهنواز خان د خالد خان، عبدالحق د صدر خان راغلي وو. محمد علي خان تر دوؤ لښکرو گرداوري ښۀ کړي وۀ. مل گُند جنبه يار دوست سوارۀ پلي ئې رابللي وو. سوارۀ ئې د يوسفزيو تپه په تپه راغوښتي وو. واړه حاضر شوي وو. پياده خلق د افريديو ئې هم راټول کړي وو. دوه سوه سوارۀ زر کسه پياده لښکر جمع شوے وۀ. په دريمه ورځ پروانه د گنج علي خان مشتمله په طلب دي ما پېښاور ته او په استول د محمد علي خان سرائ ته بمعه فوځ د سلطان مبارز خان د پالکي سره راورسيده. په موجب د پروانه محمد علي خان مي د لښکره سره سرائ ته روان کړ. خود پېښاور ته راغلم. نامدار چې هرگاه صوبه دار تر سينده پوري ووت. له هغه طرفه ئې خاطر جمع شۀ. کله ئې د سرور له ميلې سرائ ته واستوله. دې و باغ ته د افضل آباد راغبے. دوه دري شپې ئې په باغ تيري کړے. پس له هغه بعضي د قبيلې خلق چې دلته ئې خائے معلوم اولس تر ډيري ويري له ملاحظې ورسره په ظاهر جمع په باطن پريشان مهراجي ته راغبے. چې محمد علي خان په خلوزيو ورغبے. کدخدايان ملکان د اولس واړه مخې ته ورته راغلۀ نور د مهراجي نه د ځو سورو پليو سره روان شۀ. د جهانگيري په گودر پوري شۀ. لاهور ته د يوسفزيو لاړ. په دوه ويشتم د شوال سن زر سل شلور ديرش محمد علي خان سرائ ته ورغبے. اولس ئې کسب گر هندو بقال چې په دا هرج مرج کښې

تفرقه شوي په غرونو تار په تار لاړ وو واړه ئې دلاسه کړۀ راځ وستۀ. آباداني ئې وکړه شاهراه ئې په امن و امان جاري کړ. کڼه ئې هم له کوهيو نه سرائ ته وغوښته. زۀ هم څو ورځې په پښاور کښې چې پس له مدت متمادي راغلے وم د يار اشنا ديدن دپاره پاتو شوم. گنج علي خان سروپائ راکړ رخصت ئې کړم. په شپږم د ذوالقعده سن مذکور داخل په سرائ شوم. په شلم د ذوالقعدې سن مذکور خط د برادر عزيز ملک محمد چې دے هم د نامدار سره په لاهور وۀ راغے .عرض ئې د خپل احوال کړے وۀ او د نامدار د صلح ئې هم څۀ کښلي وو چې په گزشته پښيمان دے کۀ تير گناه ئې عفوه يوه گونه دلاسه شي اميد چې آئنده به په راستي درستي کمربسته د خدمت وي. ما هم د دۀ د خط په ځواب کښې دا خط ورته وکيښ. هغه خط دا دے:

برادر عزيز ارشد ارجمند ملک محمد له عافيه سره سلامت اوسه. خط خيريت نمط دې پس له مدت متمادي راورسيدۀ چې په خيريت د دوستانو وۀ خاطر خوش وقت شۀ. بيت:

حق نمک نہ بے شناسی | و ز منعم خویش بے ہراسی

زمونږ په واړو د بنو پيروزئنه ده چې تاسو له مونږه په تيښته کښې فائده وينئ زمونږ وئيل او کښل څۀ فائده نۀ لري. په هيڅ وخت په هيڅ آوان مونږه د نصيحت وئيلو ځان معاف کړے نۀ دے. علي الخصوص دې تا په باب بې له توجه کم توجهي نۀ ده شوے. کۀ په بصيرت[۳۶۲] انصاف په ميزان کښې د عمر گزشته په لاس د عقل نيکي او بدي خپله او زمونږ ترازو کړے او وې گورے البته حقيقت به درته معلوم شي. توفيق ورکوونے د انصاف باري تعالیٰ دے. اما ارادت الله څوک جاريستے نۀ شي. زړونه د بندگانو په يد قدرت کښې د الٰهي دي. لوئي ورکوونے هم دے دے. کمې هم له دۀ وي دا چشم زخم دا کمي خورد و بزرگ چې ورسيده واړه شامت زمونږ د نفس وۀ. يا زمونږ کفران نعمت وۀ کۀ دې ما د لاسه سهواً يا عمداً څۀ خطا شوي وي زۀ ترې بازگشته يم. نظر مې په بهبود د خلق الله دے. د هيچا په ازار او په اضرار روادار نۀ يم. درې کاله باوجود د تردد او انتظار او د آرزوئے تمام او د نفاق (۱) او بې وفايي سرداري د برادر عزيز گرامي وازمائيله شوه او وليد شوه. کۀ څۀ فائده پکښې مرتبه وے مونږ به خپل فرزندان واړه ورلره ورستولي وو د دۀ فرزندان زمونږ او فرزندان زمونږ د دۀ هيڅ عيب عار نۀ وۀ. د دې يوۀ نفس شوم دپاره چې دا هومره که او مه واړه پکښې ذبح کيدے او تلف کيدے مخالفت به مو نۀ کاوۀ. دا همه تردد چې وشۀ نۀ د دې نفس شوم دپاره بلکې خلائق دپاره چې شايد اگر چې تقدير په پرده کښې دے. موافق د تدبير شي. هغه تللے بخت د اولنيو

تخت بيا په ځائے شي. او که نه دا انديشه په خاطر نشته چې لکه خر ګيډه له حرامو خلالو ډکه کړي. او په يوۀ ځائے فراغت ملاستے نۀ د وړاندې انديښنه نۀ د وروستو. بيت:

به بازی نبردم جهان را به سر　　که شغل دگر بود جز خواب و

د برادر ګرامي د مصالح له بابه کښلي و مصالح چې دواړه لوريه راشي دے هيڅ سبب ته محتاج نۀ وي علي الخصوص د خپلو چې يوه وينه يو هډ وي د ناکام د ناراستۍ وي(۲) بيت:

آنکه بود صلح بنا داشتی　　خشم خدا باد بر آن آشتی

هغه چې تۀ راته والے يا ئې دے راته وائي په خولو د نورو بيګانه ؤ مونږ واړه پرې پوهيږو. برادار ګرامي عذر د نا اعتبارۍ په ميان راوړې هغه عذر د دۀ مقبول په ځان دے. هر ځائے چې ناست وي منظور څو د دۀ اعتبار کلي حاصليږي خبر د دۀ د خرڅ په موافق د دخل د ملک د نوي کورمي سره اخستے بويه. دا نوره واړه زړه کورمه دې واړه راستوي. د خپلو فرزندانو سره به ئې تربيت کيږي. زمانه په بنيګړه نۀ ده نازان و بدو ته هوسي ده تر مونږ تر تاسو خپل دلسوز هيڅوک نشته چې خپل بهبود د کار سره ونکړو پير مير هيڅوک زمونږ غم خوار نۀ دے . اګر چې لذت د اجاره دارۍ په مذاق د دوستانو تر حده د اعتدال وتلے خوږ لګي. ليکن بيت:

کامهٔ وقت اگر چه ز جان خوشتر است　　عاقبت اندیشی ازان خوشتر است

حقيقت د رد او د قبول د دې معنیٰ چې معلوم نۀ وه عليٰحده خط ونۀ شۀ په خپل معرفت يا د زبيدې يا د قيمتي آبې تر نظر د برادر ګرامي تير کائئ. کۀ راضي وي د هلکانو د راستوۀ دپاره به برادر عزيز عبدالله خان يا محمد علي خان له فوځه سره جهانګيري ته ورشي کۀ نۀ وي غير عاقبة بالعافية دوباره ئې ځواب راستوۀ چې د اعتبار د حاصليدو دپاره کۀ خان صاحب دوه شيخان يا پيران راستوي بنه به وشي. دلدار ګل محمد غياث سره مې وبلل. له حقيقته مې خبر کړۀ ورته مې ووې کۀ خبر[۳۶۳] په موافق د ردوبدل سره پيوند شي قسم مغلظه طلاق خو پخوا هم شوے وۀ. په هغه معلوم چې عمل هيڅ ونۀ شۀ اوس دې عهد نامه و کښې په خپل مهر سره را دې کا او عهدنامه دې واخلي عهدنامه دې ما دا ده. يفعل الله ما يشآء و يفعل ما يريد . عهدنامه خدائ تعاليٰ دانا او بينا دے څو مې مليه (۱) ترلے ده نيت مو په بهبود د قول او د قبائل دے. تراوسه مو لوړه تنده نۀ ده ليدلے په لوړه د نام و ننګ يو لکه څوک په پريشانۍ د خپلو فرزندانو دلګير وي هسې په پريشانۍ د قوم د قبائل چې څوک اعليٰ او ادنیٰ وي دلګير وي. په قوم قبائل کښې کۀ مو څوک له زبان آزرده وي د دې بهبود دپاره به وي چې هر چې مردود د شريعت وي له هغو احتراز کائئ چې دا سبب د بيخ کنۍ د ملک دے نه د دې د

زوال دولت یا د عزت دهاره اوس ثابت قدم یو کۀ په سبب د آز او یا د مال یا دهاره د جاه د چا ورور یا د عزیزانو له لاسه تقصیر واقع شوے وي چې سبب د زوال ملک یا د دولت شوے وي هغه گزشته واړه بخښلي آئنده دې نظر په بهبود د قوم د قبائل په شرم په ننگ لري. چې آئنده په خیر وي. کۀ زمونږ ورونو یا زمونږ د خامنو گزشته تقصیر کینه په زړۀ وساتله له خدایه له رسوله لرې واتۀ دي. دا به هرگز ونۀ شي. کۀ څوک حاضر وي کۀ غائب وي بدي غوښتلے نۀ ده څو دسترس وي ورسره کړۀ شي. شلم د ذوالقعدې ۱۱۳۴ هجري. عهدنامه د نامدار باعث د دې سطور په دا دستور دا دے چې مدت متمادي د عمر عزیز چې په پنجاه و پنج راغلے معلوم شول. چې حاصل له عمر طبعي او بهره څنې هم دا مقام وۀ. هر څو تردد چې په پیروی د نفس په انجام ورساوۀ متقاضي د جاه و جلال بې ثبات شو اما چې په پیروی د عقل او د دانش نۀ وۀ مثال ئې د تږي او د سراب وۀ. په دا کار کښې هر چې مې دوستان گڼل دوستي ئې په خصومت بدله شوه. هر چې مې یاران گڼل اغیار ولیدۀ شول. د خپل مطلب د خپل سود غواړه بل په زیان کښې د جارونو د ناراستی له لارې او کښې مې شۀ قدم په لارې د راستی. سود او زیان مې د خپلو برادرانو وکاتۀ کۀ برادران مې په مرتبه کښې د دین او د دنیا بلند ولیدل حسد به پرې نۀ کړو. مراتب به د لویو د کمو په ځائے ساتو. کله گزارې په مغل په پښتانۀ کښې په سبب د کم مهری او د کم محبتی وي نۀ قلمي نۀ زباني به په عمل راشي. په ښۀ ورځ په بده ورځ د خپلو ورونو او د فرزندانو وي. مونږ او زمونږ فرزندان شریک دي. هر چې د خپل وطن سود او بهبود وي په غیر ئې پیرزو نۀ کړو. له ځانه له خپلو فرزندانو او یا ورونو او د ورونو فرزندانو ته. کۀ په دا عهدنامه کښې تفاوت راغے له خدایه او له رسوله ﷺ مو گوتې ختلے او لعنت د ملائکو پرې ورد زبان. دوه ویشتم د ذوالقعدې مقام د لاهور د یوسفزیو. ۱۱۳۴ هجري.

پخوا تر دا چې د ملک محمد سره اقرار کړے وۀ نور څوک پرې خبر نۀ وۀ هر گاه چې بعضې مفسدان چې دلته ئې خپل ځائے نۀ لیدۀ خبر شول وپوهیدل چې مونږ هسې تر مینځه پاتو شو دا رنگ در رانده و از دیگرے درمانده وي. ویره وه [۳۶۴] چې دا هسې عظیم بدې فساد له لاسه شوے کوم اعتبار د دۀ چې ویره نامردې خود بنکاره کاوۀ عیان را چه بیان، د هغو ونیلو پښیمان شۀ. شیخان چې ورغلۀ هغه اول صورت ئې ونۀ لید. پستنه راغلۀ ملک محمد پس له دوؤ میاشتو بیا خط راستوۀ. نور مې خط راست او درست واستوۀ هغه خط دادے:

برادر ارشد ارجمند محمد خان خوشوقت او سلامت وسه. خط خیریت نمط دې

راورسيد. د برادر گرامي او د رایٔ زاده هر کرن د خط او کتابت سره گرځيدل معلوم شول د
دې بيان احتياج نهٔ وهٔ عيان را چه بيان. برادر گرامي به تردد د خپل کار کا. لاس پښتې خلهٔ چا
بند کړي نهٔ دي بل د خپل صحبت مخالفت دې هم کښلے وهٔ. په دا کار زهٔ (!) هيڅ نه
پوهيږم په صحبت د وررور دا رنگ او د صحبت پرچر گرزيدن وئيل بل کول څهٔ بل کهٔ په
وخت د حادثې به دوې نور ملګيرې کړه شي. (۲) زهٔ بيرون له حادثې راغلے يم پخوا تر دې
درته کښلي شوي وو اوس هم درته کښلے شي زهٔ او نامدار سره وررونه يو د پلاره تهٔ مو
ترمينځه ورور لکه د دهٔ هسې دې ما. کهٔ پوهيږے چې د بهبود په کار دهٔ ملا تړلے ده زهٔ بد
کوم دا خبره چې تهٔ کښنے گنجائش نهٔ لري. هر چې دے کا تر دهٔ زيات تهٔ کوه. شرط د
برادرى دا هسې دے. او کهٔ دا اميد دې ورته نشته شير واله به څهٔ کړے يارحسين به څهٔ کړے
گور هم د يارانو سره کفن هم د يارانو سره رادرومه د مردانو غونډې په راستي په درستى ملا
وتړه کهٔ څهٔ وسواس دې ما نه په گزشته په خاطر راوړے هرگز ئې مهٔ راوړه. ما خو پخوا هم د
اتکه رابللے چې تهٔ وسواس په خاطر لړے هم دغه هسې به وي. والسلام. تر حالت تحريره
پورې چې پينځلسم د ربيع الثاني دے سنه مذكور خواب هيڅ رانغے.

نوازش علي خان د ناصر خان چې خدمت د شاهراه له اتکه تر کابله تعلق په دهٔ لري
په لاهور وهٔ. هرگاه چې حسن ابدال ته راغے په تاريخ اوولسم د محرم سن زر سل پينځهٔ
ديرش له برخوردارانو سره د استقبال دپاره خير آباد ته ورغلم. چې تر سينده راپورې ووت.
ملازمت مې وکړ راتر غاړه ووت. ډيره مهرباني هره گونه احوال پرسي ئې وکړه. پينځهٔ
اشرفۍ مې وجهه نظر تيرې کړے قبولې شوے. په خير آباد ئې مقام ونهٔ کړ. هم هسې سرایٔ ته
راغے. وجهه مهرباني څهٔ پسونه څهٔ غوړي ئې ورکړهٔ شو. يو خانه کريز باز و اس وجه
پيشکش مې تر نظر تير کړهٔ. باز ئې واخست. اس لکه دهٔ غوښت هسې نهٔ وهٔ. نور ئې
وفرمائيل چې دې تا اسونه واړه خپل دې. دا زمان دې موقوف وي. را وبه رسي. دا ئې هم
وفرمائيل چې زهٔ جريده بلا ملاحظه د نواب په ملازمت جلال آباد ته روان يم. تهٔ هم اوس له
حادثې راغلے ئې بالفعل هيڅ تصديعه مهٔ کوه. هرگاه چې نواب پښناور ته راشي خود به تهٔ هم
ملازمت وته راشے. هالهٔ به سره وروينو حسب الحکم د دهٔ له پښناوره پستنه شوم. برخوردار
محمد علي خان مې ورسره روان کړ چې تر پښناوره لاړ شي. او په عرض مې ورسول چې دا
زمان بل اس لائق د پيشکش موجود نشته. د محمد علي خان د سوارى يو اس شته دے خود
په خدمت درسره دے. تر نظره به تير شي کهٔ منظور شي قبول دې شي. په ښکار کښې ئې
وليدهٔ خوښ ئې شهٔ وایٔ خست. محمد علي خان تر پښناوره ورسره ورغے سروپایٔ ئې ورکړ.

رارخصت ئي کړ. [۳۶۵] په شپاړسم د صفر چې نواب له جلال آباده کوچ وکړ راروان شهٔ. پروانه د گنج علي خان په وخت د نمازښام په شلم د ماه مذکور راغله چې نواب له جلال آباده کوچ وکړ. زهٔ استقبال ته روان شوم. بويه چې تهٔ هم له بنهٔ جمعيته سره رادرومې چې يو ځائې سره ملازمت وشي هم په هغه شپه مې خپل سوارهٔ پياده چې چرته وو راوبلل چې شبشب رااورسي او تهيه سامان مرکب او د بارگيرو اسباب وشهٔ. علي الصبح اسباب مې پخوا راروان کړ. خود په تاريخ مذکور په وخت د نمازپښين له برخوردارانو سره راسور شوم. شپه مې نوښهر ته راوړه. پير محمد فاضل د خوي مخې ته چې د بدخشان سوداگرى نه راتهٔ ولاړ وهٔ. په وخت د تلو مې د بازونو د راوړو تاکيد ورته ډير کړے وهٔ. يو خانه کريز باز ئي راستولے وهٔ. اتفاقاً هغه شپه نوښهر ته راورسيد په شپه مې را وغوښت پښاور ته مې راسره يوړ له پښاوره روان شوم په لوارگي باندې د گنج علي خان سره چند روز چې نواب نهٔ وهٔ رارسيدلے مقام وشهٔ. هرگاه چې نواب راغے هم په دغه ځائے باندې مې ملازمت وکړ از روئے توجه و مهرباني بغلگيري او احوال پرسي ئي راسره وکړه. له هغه په رفاقت د نواب منزل په منزل پښاور ته راغلو. دوه خانه کريز بازونه يوه جره يو اس د سنگ يشم د سازه سره مې تر نظره تير کړ. واړه ئي قبول کړهٔ هغته پس ئي سروپاځ محمد علي خان ته ورکړ. بندوبست د ملک او د نگهبانى د شاهراه دپاره ئي رخصت کړ. په يوولسم د ربيع الاول ورځ د دوشنبه سره مذکور سرائ ته لاړ. خود دپاره د حصول د بعضي مطالبات موافق د مرضى د نواب پاتو شوم. ځلور مياشتې په ښار کښې تيرې شوے. آمدورفت مې د دربار کم کاوهٔ. گاه گهے چې دربار ته تلم په وخت د کوز نمازديگر به ورغلم اول غروب د نمر به راتلم. يوه دوه ځله ښکار ته هم حسب الاشارت د نواب لاړم. نور اکثر په مرمت د حويلى مشغول وم. چې د مدت شکست و ريخت شوې وه. تا بحديکه دا تردد ئي نهٔ وے شوے له کاره وتلې وه. هرگاه چې بحالي د منصبونو تعيناتي د صوبه دار په دستور قديم او خطاب له پيشگاهه د خلافت او جهانباني راغے. تسليمات مې د صوبه دار په ځائے راوړهٔ وخت د بهار وهٔ د باغ باغات د خصماني دپاره چې د مدته بې پرداخت شوې وو او د برخوردار محمد اشرف د بنادى کار هم درپيش وهٔ. رخصت مې واخست په تاريخ نهم د جمادي الثاني سنه زر سل پينځهٔ ديرش په لار د ځلوزيو کور ته راغلم. پخوا تر دا لا د پښاور ته د تلو مې د بنادى د کار دپاره او د سامان د سر انجام مې حکم کړے وهٔ. اکثر اسباب تيار شوے وهٔ. څهٔ باقي پاتو شوے هم په خو گاهه کښې سرانجام شهٔ. په تاريخ د اوولسم د رجب سنه زر سل پينځهٔ ديرش کار د برخوردار د بنادى په اتمام ورسيد. هم په ايام د بنادى کښې خط د برادر عزيز محمد خان له

لاهوره مشتمل په عفو تقصيرات سابق او راتلۀ په ملازمت راغے. د همايون د بابه ئې كښلي وو چې كۀ خوف ويره ئې نۀ وي دے به هم په خدمت حاضر شي. دواړه مې راوبللـ. راغلل پښتوا د دوي تر راتلو محمد ديدار هم راغلے وۀ. د قبيلې خلق چې په قباحت او بنياد كنې پوهيدلے وۀ ليكن يو خپل فعل مې حجاب وۀ. په هر صورت يو يو دوه دوه راتلۀ په بندوبست د ملک چې د څو كالو برهم[٣٦٦] درهم وۀ مشغول وم. صوبه دار چې خوان خلمے تجربه كار نۀ وۀ اكثر به په بنكار او په نژر لهو و لعب گرفتار وۀ. ديوان ئې نن يو سبا بل يو څو ناپكار هندوان ئې پيشكاران وو هر چې به هغو څۀ وئيل هغه به ئې كول. په سبب د خام طمعي خام كارى ماته ئې هم طمع وكړه. دې ما چې جاگيرونه واړه تر قبله داندهي (١) پورې چې قديم پيوسته د وطن د دامونو وو تغير په ځائے نه دا هومره قبيله او وابسته هفت پښته راسره د دې ملک احوال په واسطه د خشک سالي او تسلط غلبه د يوسفزيو درست وران آمد دخل ئې چندان نۀ وۀ. په هزار حيله قوت گزاري هم د دې خلقو پرې نۀ كيده. د دوي د طمعې كوم گنجائش. ورته مې ووئيل چې ور كړۀ اخستۀ يوه وجهه لري دې ما د جاگيرونو تلاش وكانړ. سفارشونه د حضور راكانړ چې د بادشاه له سركاره راوخيژي. اول دې تاسو پسې دې ما په دا كښې مضائقه نۀ لرم. اما دوي بد اصله بدطينت د بهبود په كار كښې هيڅ مۀ پوهيږه. خيال محال انديښنه باطله چې ئې كړې وه فكر ئې دا وۀ چې كۀ نامدار وبولو شايد د دۀ په راتلو څۀ نرم شي التجا راوړي. نور ئې د دۀ سره خط كتابت پيغام خواب وگرخيدۀ. د نامدار په طلب ئې پروانه وكښه ور ئې ستوله. دے هم ناعاقبت انديش چې هغه پښوا صحبت كې ليدلے وۀ بې فكره ورغے چې هر څۀ سره د سركار و ماته خو نيم سير دوړه راكوي (٢) نور مې د قوم د قبيلې سره جر گه معركه وكړه. مصلحت مشورت مې سره وكړ ورته مې ووئيل چې معامله زمونږ د كار د روزگار په سبب د يوۀ نيم ناپكار نهايت سبكي ته ورسيده. خود معلوم عيان را چه بيان چې يو لوئے كار لۀ مونږه ونۀ شي هومره روز به روز زبونى ته رسي. درې ځلور كال په حادثه په بې روزگارى تير كړي بيا د پښاور په ورتلۀ مې اووۀ اتۀ زره روپۍ قرض دام كړے ور مې كړے. د خيبر په ورتلۀ ځلور پينځۀ مياشتې په بنهر كښې ناست په قحط سالى كښې چې دا اووۀ سيره غله خرڅيده په دا همه خرڅ اخراجات د دولسو زرو روپيو قرض راباندې واوښت. كوهي وغيره د قوم قبيلې واړه ضبط شول. د اولس نه هم په دا هسې حال چې خو د كور د كورمې په اوگره روټۍ پورې درمانده پيشكش واخست شۀ هنوز لا هغه قرض ادا شوے نۀ دے. روزماهيانه د هيچا نه په روزمره پورې درمانده ليكن په هر صورت چې ساعت اوقات گزارې كړې خپل وطن كور خانه مو دے ناست يو خدمت كوۀ شل ديرش كروهه له

دیـه نـه پېښـاور تـه د مـغـلو مدد کومک معلوم بادشاهي لا په امن په امان جاري هنوز لا دوي خـوښ نـه. نـوري خبـرې کـاندي. د دې کار فکر څهٔ بويه. قرار داد په دا وشهٔ چې د مغل سره زمونږ دا برابري نشته چې هم په خپل ځائے ناست يو کار کوؤ اوجاړه کړے بويه چې بادشاهي لار بـنـده شـي. خـود به مغل محتاج شي. يو صورت به وشي. نور مې امازي کمالزي ته سړي واستول. جرګه معرکه ئې سره وکړه. غاله ډهير او دواړه پنج ډير ئې کړهٔ محضر ئې د اتفاق هـم پـه جمع سره واستوهٔ مقرر شول چې قبيله وابسته لکه سپاه وغيره او د سيند د غاړې خلق اولـس ئـې وغيره پورې راپورې واړه په دا دوه ځايه سنګر او د غرهٔ خلق دې کلهم تر غرهٔ هغه خـوا ځـائـے پـه ځائے په خپلو ميلو مناسبو ځايونو [۳۶۷]سنګر وکاندي لکه مهمندي په کمر ميـلـه تـوتـکـي وغيـره او ځيـنې په سپهنړاو هسې رنګ فتح خيل وغيره په دا ميان کښې مغل پښتـون خپـل پـردي هـر څـوک چې وي هغه دښمن صرفه پرې نهٔ بويه. سر ئې وهلے مال ئې تـاخت و تاراج کړے بويه. په دا قرار داد فاتحه د خير وشوه. له مغل سره مې هم سوال ځواب کيـدهٔ د يار اشنا سره هم چې په دربار کښې وو لکه خير قلي خان وغيره خط کتابت ګرځيدهٔ. متـصـديـان هـم وپـوهـيـدل چې دا بنـهٔ کار نهٔ دے فساد عظيم به برپا شي. د نامدار د بللو نور مقصود د دوي هيڅ نهٔ وهٔ محض په يوهٔ اميد ئې رابللے وهٔ چې شايد د دهٔ په راتلهٔ څهٔ راکاندې. هـرګـاه چـې لـه هـغـهٔ نااميد شول وپوهيدل چې پيش رفت صورت د هغه کار چې دوي خيال کـړے وهٔ نهٔ کيږې نور ئې نامدار ته ووې چې دا زمان موسم د کابل د تلو دے مونږ په هغه فکر يـو هـر کـلـه چې راوجـاروځـو دې تـا د کار صورت به کوؤ. د نواب ملازمت ئې هم ونهٔ شهٔ. خـجـالـت زده په بد احوال له بنهره ووت بيا يوسفزيو ته ورغے. هرګاه د سربلند خان په راتلهٔ زهٔ ځوترې ته لاړ وم دې ما اسم ئې په فراري کښلے وهٔ. محال د ترې بولاق له ما نه تغير شوے وهٔ. پـه دا آوان د يـولبارس خان (۱) چـې د آغـر خان د لور لاسته نمسے وهٔ. (۲) او د بـنګښ فوځداري له حضوره د دهٔ په نامه شوې وه. او محال مذکور هم چې بنګښ سره پيوستون لري د دهٔ پـه فهـرسـت کـښـې شـوے وهٔ اټک ته راغے. د خپلو راتلو نه ئې راته وکښل. برخوردار مـحـمـد حسـن خـان چـې د خير آباد فوځدار وهٔ ورته مې وکښل چې د وابنهٔ لرګي د ځائے د ځـوکـي خـدمـت ئـې پـه بنـهٔ رنګ وکـا. چـې رضامند شي. چې سرائ ته راغے دوه شپې ئې وکـړے. د مهـمـانـي خدمت ئې موافق دست رس په بنهٔ وجه وشهٔ. يو اس بنهٔ پاکيزه ترکي يو چـوز جـره مـې هم ورکړ. فکر مې وکړ چې ترې بولاق د دهٔ په سند په فهرست کښې درست دې. دې مـا د بـحـالـي سند نهٔ دے راغلے. بې فائدې کاوش مناسب نهٔ دے ورته مې ووې چې ترې بولاق سره دې ما غرض نشته. دې تا په جاګير کښې دے. بندوبست عمل ئې چې څه

'رنگ پوهیږې کوه. راته ئې ووئیل چې ته دې ما وروړ ئ. تري بولاق ما و خپلو وزیرانو ته ور کړې دې. په تمامه مبالغه سره ئې راته ووې چې هیڅ حجاب مه کوه.. ما په رضامندۍ چې دې تـا جاګیر دې و تاته پرېښې دې. د بل څۀ؟ (۳) دا کـومه خبره ده تري بولاق څۀ دا هومرا ملک به نور هم له خپله جاګیره په وار سره درکړم. ما هم ورته ووې چې ښه لکه خان صاحب چې دا هسـې مهربـاني وکړه. دې ما خدمت دولت خواهي به هم انشاء الله تعالیٰ خود ښکارا شي. اصالت خـان عـزت خـان تـه مې هم خطونه وکښل خوابونه مې متواتر ورستول چې دا شـخـص لـه لويه کوره او نیک مرد سړې لیدۀ شي. تاسې هم بويه چې د دۀ په ملازمت پېښاورا تـه راځـئ. اتـفـاق سره په دا وشۀ چې هرګاه پېښاور ته ورشم سامان سرانجام وکړم بیا به سره خبر واخست شي. دې به کوهاټ مونږ په تري بولاق. یو د بله په هر کار ممد معاون. نور مې خپـل اوښان د باربردارۍ دپاره ورسره کړۀ چې د پېښاوره ئې پسټنه راستوې. شل جزائیل مې هـم لـه خپـلو جزائیلو چې به پېښاور پراتۀ وو ورکړۀ. دې ما په کښلو او زمونږ په دا اتفاق چې سـره وشو بنګښ هم واړه اصالت خان، عزت خان، حسن خان مطابق د ما د کښلو پېښاور ته دۀ پـه لیـدۀ راغـلـۀ ما هم په حسب قرارداد برخوردار اسد الله خان په فوځدارۍ د لاچۍ مقرر کړ.[۳٦۸] شل پینځۀ ويشت سوارۀ، نوکران اولسي دېرش، دېرش څلویښت جزائیل بردار بـنـدوقـچـي مـې ورسـره تـعین کړۀ. په تاریخ يوويشتم د ربيع الاول ۱۳٦ ۱ هجري روان شۀ اولسـي پیاده لکه ملک انعام خورم هم ورسره حکم کړې وۀ چې دُ پینځلسو ورځو توښه دې خپله ورسره واخلي پس له هغه به ئې رارخصت کاندې. او کۀ احياناً پکار وي پاتو شول وجه خوراک بـه بـرخـوردار اسـدالله خـان ورکـوي. ورته مې ووئیل چې تۀ اول درومه څو شپې دوې د وررسیـدو دپـاره پـه ښـادې پور مقام وکړه چې واړه سره جمع شي. ټول په جمعیت ښادې پوره راروان شئ. **فصل** : تـفـصيل د دې مقدمې دا وۀ چې یوه ګله د اسو له بدخشانه اشـنغر په لار خویشکو ته راغلي وه. (۱) سـرفراز ګل سروڼې سازش وکړ چې په میره میره ئې بـوځـئ. د بازارونو په ګودر ئې تر آب سینده پورې باسئ. اتفاقاً امازې په دا حال واقف شول داړه ئـې په میره ورته پټه کړه چې هرګاه دربانډې درشي تاراج ئې کاندې. سوداګر له داړو چـا خپـلـو پـردیـو نیک خواهانو خبر کړۀ چې په هغه لار ئې قابو غلط شۀ. ګله ئې په مصرف بـانـډه راوستـه مـا وته ئې خواب راستوۀ چې د اسو د محصول اخستو دپاره څوک راشئ چې حساب وکا. محصول دې ترې واخلي. تورې مې واستوۀ محصول ئې ترې واخست. سرفرا ورتـه ووئیـل چـې زۀ هـم حـاضـر شوې يم دې ما يوه قبا دې خان صاحب وکاندې. تورې چې راغې راته ئې ووئیل په خاطر تیر شول چې دا پیسه توره معلومه څۀ ښه نۀ ده دۀ ته اخستۀ هیڅ

مناسب نهٔ دي. (۲) اما اظهار مي ورته ونهٔ کړ. ومې فرمائيل چا پسته دولس روپۍ ورکړے.
(۳) نور د ګلي سره د جهانګيري په ګودر پورې شهٔ. څو شپې ئې په ببرو کښې وکړے.
زيارت وته ورغے مونږ د دوي له کاره غافل هميشه ورسره نيکي احسان کاوهٔ. زمکې سيرې
خالے په خائے باغونه انعامي و که مه ورکوه حرمت عزت ئې په خائے راوړه. يو چې قديمي
خانوادهٔ د شيخ اولاد دے بل څهل ختک خوبنان دوستان دي په هر څهٔ خوښيدو نازيدو. اما
پښتانهٔ وائي زهٔ دې تا په برګ ته دې ما په مرګ د دوي بل خيال په خاطر وهٔ. وسله تورک
توري چړې زغرې ورکوه کوره سره نور نور مصلحت مشورت د يار دوست سره هم پټه پټه
جرګه معرکه لکه د عباس ګل په فاتحه بعضې څيني چې د دوي اعتباري وو زيارت وته ورغلي
وو خبره ئې سره مقرره کړې وه نور له زيارته روان شهٔ. په شير کمرے د کوهاټ په لار ئې ترې
بولاقو ته خان وغورخاوهٔ. هم دا دماغ په سر کښې په دا قصد چې هورې خان بنکاره کا له
لاچي په خورمو ورغے. خبره ئې د يوهٔ نيم سره لا د څو کالو پخه کړې وه. په دا وخت مې
دواړو سره په طريق د اخفا پوشيدګي وکړه. نور تيري ته وخوت پاس درې ته لاړ. اتفاقاً يوه
ګله د اسونو راغلې وه په دغه لار راتله. اسدالله د يحيیٰ خان نمسے چې د لاچي فوخدار وهٔ
دے هم د ګلي د راوستو د محصول د اخستو دپاره له لاچي نه پاس ورته ختلے وهٔ. د دغه
خلقو دستور دے چې د اسو په ګله په کاروان په يوه طمع اميدوار تول شي کله وړاندې کله
وروستو کله په يو څنګ کله بل څنګ. اسد خان و د دهٔ له کاره بې خبره وهٔ. او د دهٔ کلي
نظر په فساد او په شر وهٔ. هرګاه چې تيري ته راغلهٔ. [۳۶۹] په دستور سابقه چې هميشه کلي
محصول د شاهي خيلو واخست شي اسد الله خان کاروان باشي سوداګر راوبلل چې محصول
نرې واخلئ. هغو د محصول په ورکړهٔ کښې څهٔ حيله حواله کوله. عذر ئې راوړ چې پيسه
توره دلته راځخه نشته. په خورمو به محصول درکړو. او چوتهائي چې د اولس ده هغه ئې
ورکړه. اسد خان حيران شهٔ چې دا څهٔ حال دے. نور کله به محصول دلته په شاهي خيلو کښې
اخست شهٔ او چوتهائي به خپله فوخدار له خپله لاسه اولس ته ورکوله. دا خله چوتهائي
ورکوي او محصول د سرکار نهٔ راکوي. دا څهٔ حکمت دے؟ اولسي خلقو هم تبوله تبوله سره
يو خائے بل خائے کوله. د خلقو حال ئې بل رنګ وليد. د چا يار دوست نه ئې پوښتنه وکړه چا
په غوږ وواههٔ چې باني د دې کار سرفراز ګل (۱) دے. د اسد دا وهم خيال په خوب هم په
خاطر کښې نهٔ وهٔ تير شوے حيرت ئې لا زياتي شهٔ. ورته ئې ووې چې زهٔ اورم چې دا د ګلي
محصول تهٔ منع کوے څرنګ خبره ده؟ اظهار ئې ورته ونهٔ کړ. وې وئيل چې تهٔ دې ما په دا
کاروانو څهٔ غرض لرے. ليکن سوداګرو سره پيسه توره د خرڅ نشته. وائي چې په خورمو

کښې بـه مـحصول ور کړو. سوداګرو ته ئې اشارت د تلو کړے وۀ. سوداګرو ګله روانه کړه چې اس اسـد راوجـاريسـت چې خـو مـحصول را نۀ کانې هومره مۀ درومئ. بارې هيڅ پرې مرتب نۀ شوۀ. الغرض اسد الله چې په حقيقت د حال وپوهيدۀ. نور راروان شۀ. برخوردار اسد الله خـان هـم له بنادې پوره راروان وۀ. شپه ئې د شيخ شهباز په کلي کښې وه. چې ناګاه اسد هم په دغه ځائې د هغه لوريه راغـے. ورسره ئې وليدل د ګلي د تلو نه ئې خبر کړ. حال حقيقت ئې چې څـۀ ليـدلـے اوريـدلـے وۀ ورته ئې ووې. هم په هغه وخت اسد الله خان روان لاچى ته ورغـے کـوز شۀ. لا ملائې هم نۀ وه پرانتے چې د لښکر د راتلو اواز وشۀ. حيران شۀ چې دا د چـا لښکـر دے او څـوک دي؟ ليـکن چې لښکر نژدې قريب راغلے وۀ سور شۀ د هغو سورو پيـاده ؤ سـره چنې ورسره وو درووت. حافظ امين د ملا شمس الدين خوے څو سهين ډيرې د سينـيـو و مـخې ته ورغلۀ د اسد الله خان د راتلو نه ئې خبر کړۀ د دوي ګمان هسې وۀ چې اسد يک تـنهـا پـه لاچـى کښې ناست دے. زمونږ په ورتلۀ به پاڅې درومي. چې د اسد الله خان نه خبـر شـول سـوارۀ پياده ئې وليدل په دۀ لي قابو ونۀ ليد يو تک تک يا هبه تبه ئې وکړه دا هم ورته مستعد آماده او تيا وو پيش رفت ئې د مطلب ونۀ شۀ. نور ئې سره ووې چې اوس څۀ فکر بـويـه؟ بـارک وغيـره چې څـوک ورسـره وو واړو سره ووې چې اوس هسې کړې بويه چې پستـنـه خـورمـو ته جاروځو. سينيو ته به خواب وکړو چې مناسب هسې دي چې اسد الله خان پاځوي. کۀ نۀ وي بيا هالۀ د جنګ مصلحت ورسره وکړو. د بارکو مطلب خو د خوراک وۀ چې دا هـنګامه سره ګرموئ زمونږ د خوراک تازګي به وي. او د ګلي محصول پيسه توره به هـضـم شـي. نور په قرارداد د ځلورمې ورځې د جنګ دواړه لوريه لښکر سره وجاړوت. اسد الله خـان چې پستـنـه لاچى ته راغـے نور ئې شاه کليم کتې خيل سورډاک راروان کړ چې شپه ورځ دې ارام پـه خـان حـرام کړه چې څۀ رنګ توانيږے رسيدے شه ورسه. حقيقت حال چې دې ليـدلـے وي په عرض ئې [۳۷۰] ورسوه. او دغه دے چې کومک بلا معطل راورسي. شاه کـليـم چـې راغـے حقيقت ئې ظاهر کړ. برخوردار محمد علي خان عبدالله خان تورے واړه مې راوبـلـل چـې دا دے شاه کليم اسد الله خان راستولے دے هورته داسې مقدمه پيښه شوه. د دې کـار څـۀ فکر بويه د دوي واړو مصلحت هسې وۀ چې کۀ لاس په لاس بلا معطله سور پياده په کـومـک روان کـا بـارې دې مـا دوره درازه انـديښـنـه په خاطر راغله. ومې وئيل چې از مدت مـديد دا کار ما په خپل عقل کښې تصور کاوۀ. انتظار مې څکاوۀ اما چې په وقوع نۀ وۀ راغلے هيـڅ مـې نـۀ وئيـل کـۀ څۀ مې وئيلے عندالخالق او خلق عذر نۀ وۀ اوس چې ظاهر شۀ حق جل شانه به واړه خير کا. بارې چاره علاج ئې په صبر په آهستګي کړے بويه. په دا سبب چې

مونږ د دهٔ بدبخت له کاره غافل وو. والله اعلم چې څهٔ رخنه ئې راته سازه کړے وے. مبادا هسې کار مخ ښکاره کا چې علاج ئې دشوار شي. کهٔ هر چند که و مه واړه د کومک په استول باعث بې حد وهٔ لیکن دې ما مصلحت نهٔ کیدهٔ. ورته مې وئیل بیت:

تا نه کنی جاۓ قدم استوار　　　　پاۓ منه درطلب هیچ کار

هومره جمعیت بویه چې دلته هم خاطر ېرې جمع وې چې یو کار پیښ شي ورته بس وې. په دا هسې وخت په اولس اعتبار نشته. هومره جمعیت چې دلې هورې دواړه ځایه شي معلوم. وګورو چې له پردهٔ غیب څهٔ ښکاره شي. محمد غیاث برهان ګل (۱) مې هم له زیارته راوبلل له صورت حاله مې خبر کړهٔ. د دوې اګر چې د لویو هلکو مصلحت واړه سره یو وهٔ اول خبر وو بارې انکار ئې وکړ. وې وئیل چې په دهٔ باندې زمونږ د دې هسې چار طمع نهٔ وه. شاه کلیم یو کاواک ګر بنده دے. والله اعلم کم و زیات به وائي. زمونږ دا ګمان نهٔ کیږي چې رښتیا به وي. ورته مې ووئیل هو شاه کلیم لکه تاسې وایئ دا رنګ دے لیکن هوښیارانو وئیلي دي چې څو چارې په خان اواره کول دشوارې وي. اول مستي د دولت چې یو نیم سړے خان پکښې وپیژني. دویم رجوع د خلق چې دائم سړے له جادهٔ مستقیم یعنې د سمې لارې وجارباسي. دریم غرور د ځواني چې کهٔ هر څو سړے خوار وي چې د اوربشو یو کنډک وخوري دوه ګزه پټکے په ښکر د سر ایښے په لارې سم رفتار نهٔ کاندې په جهان کښې د خان مخے هیڅوک نهٔ ګڼینه. دا درې واړه په دهٔ کښې جمع دي. چې هر کار جدا علیٰحده باعث د دې کار دے او یوه نکته بله هم سرباري د دیو چارو ده چې هغه هرګز خطا نهٔ خوري هغه دا ده چې د نوښهر هم یو رګ ورسره نشته. القصه سرفراز ګل چې پستنه و خورمو ته وجارووت نور ئې دوه خطه یو په نامه د اسد الله خان دویم ئې په تمام سیني وکښل رائ ستول. اسد الله خان ته ئې کښلي وو فقیر چې د اولس سره په دا کار اتفاق کاوهٔ دې تا اواز په دا لور نهٔ وهٔ. زهٔ خو په خان خواهان د دې کار نهٔ یم یو سردار د دې کار دپاره بویه او اخلاص دې ما په دغه خلقو کښې دې تاسو سره له قدیمي ځایه دے. کهٔ وړاندې وروستو خواهش د سرداری لرے پاسه درومه هر مل ګندي جنبه پیدا کوه او هر وخت چې پکار شم فقیر د ډیره لښکره سره حاضر ګڼه. او سینیو ته ئې کښلي وو چې دا کار په اتفاق د تمام ختک د ښکښ او د مغل شوے دے. تاسو وته هم لازم دي چې[۳۷۱] مخالفت پکښې نهٔ کوئ. اسد الله خان پاسوئ ګنه ډیر لښکر تیار دے تاخت تاراج به شي. اسد الله خان دواړه خطونه بجنساً راستول. د دهٔ د خط ئې هم ځواب باصواب په دا مضمون وکیښ چې مشیخت پناه حق تعالیٰ دې تر هغه پورې چې شپه ورځ قائم وي خاني سرداري د ختک په خان صاحب و قبله برقرار و مبارک

لـري دې تـا سره دا كار هيڅ نسبت مناسبت نهٔ لري او دې ما بې جنګه بل علاج نشته. يو خو
فـرزنـدانـو وتـه جان فشاني د خپل ولي نعمت د وړاندې سعادت دوجهاني دے او هم وارث د
مـلک او حـاکـمانو وته تخت يا تخته لازمه. زهٔ هم پس د شاه کليم د راتللهٔ شپه ورځ په ايوان
خـانه کښې وم د کور نماستے مې ترک کړو نهارې به مې هم دې ورچنه کاوهٔ. چې والله اعلـ
څـهٔ وختے يو خواب يا کار ضروري پېښ شي معطل ونهٔ شي. خطونه چې اسدالله خان راستولې
وو راوررسيـدهٔ بـرهان ګل محمد غياث هم چې وليدل په حقيقت حال واقف شول. د هيبته ئې
رنګونه تغير شول. خولې پرې ماتې شوے ورته مې ووې چې بد د بدانو نيک د نيکانو له تاسې
نـه هسـې کـار نـهٔ دے شـوے چې بـد درسـره وشي چې څوک ښهٔ کا ښهٔ به ورسره کيږي کـ
څـوک بـد کـا اختيـار لـري کرده به د خپل کردار اخر وررسي. دوي هم په دروغو په نفاق
مـغلـظ سـخـت سـوګندونه خوړهٔ چې مونږ هيڅ د دهٔ په کار راضي نهٔ يو نهٔ ئې ملهٔ يو. هر چې
پـوهيـږي هـغـه دې کاندې باړې کهٔ خان صاحب حکم وکا زمونږ مصلحت هسې دے چې يو
دوه کسـه ورشـو وعـظ نـصيـحت ورته وکړو. شايد چې اثر پرې وکا. بدى نه ئې وجارباسو
عـفـوه تـقـصيـر ئې د دهٔ وغوښت چې کهٔ تر بدو پښيمان شي تر مبارکو قدمونو ئې راولو وير
مـلاحظه نهٔ وي اجازت حکم مې ورکړ چې ښه خبره ده. دې ما هرګز د خپل قوم بې نيکى نو
څـهٔ په خاطر نشته. خصوصاً دې تاسو سره چې د شيخ جيو اولاد قديمي خانه واده او خويښا
دوستـان يـاستې خو لا د ښو پيرزوئينه ده دا جامه د حکومت اګر چې دغه رنګ ده ليکن مو
تـه ابـائـي او اجـدادي يـعـني له پلاره له نيکهٔ ښښت په ښښت اووهٔ پيړی په ميراث رسيدلے دا
چـاړهٔ پـه غـاړه خـلاصے مو څني نشته. دې تاسې شړى کند لباس د فقيرى د درويشى دے.
تـاسـې سـره هيـڅ نسبـت مـنـاسبت نهٔ لري. نور برهان ګل دلدار ګل (١) دواړه وررروان شوا
ورغـلـل. اګـر چې ظاهر ملال ليکن په باطن خوشحال زړهٔ ئې غوښتهٔ چې کهٔ پيش رفت د کا
وشـهٔ فهـو الـمـراد کهٔ نهٔ وي زمونږ به د بلې ورځې مخ وشي علر مو به وي. اګر چې زهٔ هم د
رنګ پـوهيـدم چې د دوي ورتـلـهٔ هيڅ فائده نهٔ کا باړې په هر حال رخصت ورکړ شهٔ. او هـ
هـغه زمان مې ووئيل چې دوي هم احوال د اولس معلوم کا. سست ئې وليدل يو لبارس خان ا
مـې حـقيـقـت حال وکيښ. چې هورې دا هسې هنګامه برپا شوه. بعضې مفسدان چې سلسـ
جنبان د فساد دي دې تاسو نوم اخلي چې دا کار په اشارت د مغل دے بويه چې خپل نائب ته
کـوهـاټ وکـښـل شـي چې کهٔ برخوردار اسد الله خان کومک طلب کړ په مدد د معاونت و
ورسـي. او يـوه پروانه هم په نامه د برخوردار راستوله شي چې هغه عالم وته دستاويز سند شـ
چې د فساد انديښني نهٔ کاندې. د دهٔ سره سلوک نيک او د دهٔ [٣٧٢] فرمانبرداري اطاعـ

کـانـدي. سـرفـراز هم متواتر پے در پے خطونه ورته راستول چي دا کار ما دي تا دپاره اختيار کـړے دے پـه مکر عذر کذب دروغ ئي ډير څۀ ظاهر کړ چي د يو درنګ د مالګو د محصول هـومره زر پيدا کيږي محال تري بولاق په جاګير دي تاسي کښني دے خپل سرې راستوه چي ضبـط ئي کا. دے يو ناواقف کار دويم بل چي د تورانيو بدقولي بدعهدي جبلي ده په هغه قول قـرارداد چـي سـره شـوے وۀ استقامت ئي ونۀ کړ مذبذب شۀ چي شايد رښتيا وائي بارې يک لخت ئـي لـه مـونږه نه هم پيوند وشلاوۀ. يو ظاهر دارمدار ئي راسره کاوۀ پروانه ئي راستوله دلـدار برهان پخوا روان شوي تللي وو پروانه مي هم پسـي واستوله چي شايد د دوي په ورتللو د پـروانـي په رسيدو شر فساد دفع شي اما شدني را ديگر نخواهد شد. دوي ورغلۀ په څرګند نـي ورته پند نصيحت ډير وکړ ازميښت ئي کاوۀ چي احوال د اولس څۀ دے نور لګه ما وليلي رو دوي هـم يـو عـذر وغـوښـت ورتـه ئـي وويـيل چـي اول دا چـار مناسب هيڅ نۀ ده لګه مي واخسـت اوس چـي پـوهـيـږئ هسـي ئـي تپـيـنـګـوئ. نور راوجاروتل راغلل پروانه دوي ته له پـولـبـارسخانه هم ورغله. ليکن دے د چا په ياد وۀ مطلب د خلقو څۀ بل وۀ. سرفراز ګل چي په قـرارداد د څـلورمي ورځي د جنګ له لاچي جاروتلے خورمو ته تللے وۀ پس له څلورو ورځو پـه خوا د برهان ګل د دلدار ګل د ورتلو د پروانې تر رسيدو بيا له لښکره سره په اسد الله خان چـي پـه لاچي کښي وۀ راغلے وۀ. اسد الله خان له خپلو سورو او پياده ؤ سره د سيني خلق هم ورسـره په سامان له لاچي وروت. دواړه لوريه لښکر سره تنبي ترلے قريب نژدې ورغلۀ سره ودريـدۀ. د بـارکـو وغيره اولسي خلقو ګمان هسـي وۀ چي زمونږ به دا هبه تبه (۱) تڼک تڼک پـالي به اسد الله خان لاچي راته پريږدي‌بيا به څي درومي به. چي حال ئي دا رنګ وليد حيران شول چي اوس څۀ بويه. څو جزائيل هم د اسد الله خان د لوريه خلاص شو يو ئي قابو د وړاندي نـۀ ليـدۀ. دويـم نـرناحقه ليه پله هم (۲) مـاتـول دشـوار، عـاقبت انديشي ئي کوله او دے خود بـدبـخت سرتور ژړا په فرياد ناري وهه چي هله شئ پرې ورځئ اوس چي مو زۀ برمنډ کړم څۀ صـرفـه کـانـئ مـټ بـويه. هغو ورته ووې چي کله يو اسدالله خان د فلانه څوے بل دواړه لوريه مسـلـمـانان او خپل قوم ختټک اوس به سره خونونه ناحق وشي. دا مظلمه وبال به ئي د چا په غـاړه وي. بـارې دے څـوک دا خبـره غـوږ ايستـل څـوک د دۀ بې شر او فساده بل فکر نۀ وۀ مـطـلـب ئي هم دا وۀ چي کۀ هم سره مات شي. اخر الامر بارکو وليدل چي فقير تر دا تير دے څـۀ بـل خيـال نـۀ لـري. نور دوي سره فکر وکړ. څو کسه بارک سپين ږيري راوړاندي شول سينيو ته ‌ءې ووې چـي لښکري سره ورغلے اوس به هم سره مات شي. مناسب دا هسـي دي چي تاسو اسد الله خان پاڅوئ. دوي ورته وويل چي زمونږ په غولي ناست بيا ئي په مونږ

پاخوئ. دا څـهٔ مناسب، تر مونږه تاسي وته لا نژدې دے تاسي ئې پاخوئ. نور اسد الله خان ته جـرګـه شـول چـې کهٔ فقير نهٔ جاروځي تهٔ زمونږ دپاره له لاچى نه کناره شه. زمونږ عذر وکړه چـې دا شـر فساد زيات نهٔ شي. ډير څهٔ ئې ور وکړهٔ لاس ئې پرې ولګوهٔ. منت زاري ئې کوله. اسـد الله خان ورته ووې چې هر څوک [۳۷۳] په خپل کار عذر ښهٔ پوهيږي. دې تاسي عذر بـه دې مـا پـه پاځيدو وشي بارې دې ما عذر کوم. دواړه لښکره سره نژدې په قابو ورغلي تيار ولاړ دي. يـو څو قدم راوړاندې شئ چې څو کسـه د يوهٔ لوريه څو تنه د بله لوريه يعنې له طرفين ومـرې زخـمي شي خپل خپل پنډ دې دواړه لوريه واخلي سره به وجاروځي. دواړه لوريه عذر بـه ښـهٔ وشي. الغرض چې پيش رفت د کار نهٔ کيدهٔ او استقلال د اسد الله خان ورته ښکاره شهٔ لاچـار وجـاروتـل پـسـتنـه لاړل. اسـد الله خـان هـم لاچـى تـه راوجـاروت. دلته مو کهٔ هر څو يـولـبـارسـخـان ته خطونه څواهونه واستول چې کومک له کوهاټه يا له پېښاوره اسدالله خان ته واستـوي هيـڅ فائده پرې مرتبه نهٔ شوه. يو خوار کنګال دسترس ئې نهٔ وهٔ. دويم دا چې ته دلي ئـې هـم نهٔ کوله يو ظاهري دارمدار ئې راسره کاوهٔ. زهٔ هم په حقيقت د کار وپوهيدم بارې څهٔ بـويـه تقدير زوررور دے شوونے نهٔ نوريږي. کهٔ هر څو سرے په خرابى د کار پوهيږي بارې څهٔ وکـا چـې لاس ئـې نـهٔ رسـي. نـور مـې اسدالله خان تـه وکښل چې کـهٔ دورې پـه لاچى کښې تـوانيږے نـاست اوسه او کهٔ دغه ځائے ناستے مصلحت نهٔ ګڼے بنګښ دې تا واره خپل دي. د بـنـګښـو پـه يو کلي کښې يا په کوهاټ کښينه زهٔ هم دا يم پېښاور ته روان يم. ثاني هر څواب چـې درشـي په هغه عمل کوه. چې خط ورغے دهٔ بنا بر مصلحت وقت صلاح هسې وکړه چې چـنـد ګـاه پـه کـوهاټ کښې التظار د څواب دې وکاندې. له لاچى پاسيد کوهاټ ته ورغے. الـقصه چې د يولبارسخان حقيقت راته معلوم شو وپوهيدم چې زوررور فساد برپا شهٔ. کهٔ د دفع عـلاج ئـې اوس چـې هـنوز لږ دے ونهٔ شي هر ګاه چې اور د فساد په لمبو شي هالهٔ به ئې مړول دشـوار وي. او ډيـر خـلـق بـه پکښې ګرفتار شي. بيا هاله چې کار له لاسه وځي دريغ افسوس فـائـده نـهٔ کـانـدې. هغه ملک درګور دے ملک ته به دغه شر فساد راورسي. صوبه دار ته دا حـال حـقيـقت رسولے بويه. نوز مې تورے أو بهوانيداس پېښاور ته روان کړهٔ يار دوست ته مې خـط څـواب وکـړ يـولـبـارسـخـان تـه مې هم څواب وکړ چې پروانه دې نواب دې ما په طلب راستـوي. چـې زهٔ درشـم او اتفاق زمونږ په صلاح د صوبه دار سره وشي. نور فکر بندوبست کـاوهٔ شـي. او مـطـلب دا چې حقيقت په عرض د نواب ورسوم کهٔ رفع دفع د فساد وشوه فهو الـمراد او کهٔ نهٔ وي عذر ارمان به د زړهٔ ونيلے د بلې ورځې نهٔ وي. پروانه د نواب په طلب دې ما راغله. په تاريخ د اورلسم د ربيع الثاني سنه زر سل شپږ ديرش له کوره روان شوم سوارهٔ

پسې هم چې څـۀ وو واړه مې راسـره روان کـړۀ چې له پښاوره به ئې رخصت کړم. شپه په خلوزیو شـوه. بـاران رحـمت هم په هغه شپه وشۀ. واوره په میر کلان په سونیاله تر کړنګ پورې په غرونو پریوته. علي الصباح نرے نرے باران د ژمي وریدۀ چې هم په باران کښې روان شوم ښهر ته ورغلم په خپله حویلی کښې کوز شوم په هغه سبا مې واړه سوارۀ رارخصت کړي وو. تورے مې د کار دپاره راسره ستون کړ د یولبارسخان هغه حال چې وۀ په اول کښې هغه نۀ وۀنوري پوچې پوچې خبرې ئې کړے. اسد الله خان [۳۷۴] هم په موجب دې ما د کښلو له لاچې پـاخیـدلے په کوهاټ کښې وۀ. پښاور ته مې راوبالۀ راغے اووۀ شپې ئې راځخه وکړے نـوډ مـې کـور تـه رارخـصت کړ. الغرض حقیقت حال مې په عرض د صوبه دار ورساوۀ. چې تـري بـولاق له ما نه تغیر په جاګیر د هسې شخص مقرر شۀ چې بندوبست ضبط د هغه ملک له دۀ نه نۀ کیږي نۀ به وشي. دا دے شیخانو سر په فساد هسـک کړے دے هنوز لا هیڅ نۀ دي شـوي تـنبیـه ئـې چـندان دشواري نۀ لري. یو له دوؤ کارو ضرور بویه. یا له دۀ تغیر شي و ماته ورکـړ شـي چې زۀ ئې یو فکر وکړم یا له دۀ په سرکار کښې مچلکه واخست شي چې رفع دفع د شـر د فسـاد وکـاندې. نواب قبول کړ چې تري بولاق له یولبارسخانه تغیر کاندي و ماته ئې راکـه او عـوض د تـري بولاق بل محال و دۀ ته ورکا او پروانه د محال مذکور و ما راکاندي. کۀهر څو ما وئیل چې تعطیل په دا کار کښې صلاح د دولت نۀ دے لیکن د دربار کار وۀ په نن سبا څـو وختـه تیـر شول چې په دا میان کښې حکم د نواب د معزولی تغیری پټ پنهان وشۀ. سرفراز ګل هم د لاچې د که و مه، ارباب، ملک، شیخ عالم ته پے در پے خط پیغام راستوۀ په دروغ مـکـاری یـو تـه بـه ئـې یـو څۀ کښل بل ته به ئې بل څۀ وئیل. شیخ عالم ته ئې د شریعت سـلسـلـه جـنبـانـي د وړاندې کړې وه خپل مطلب ئې پکښې نغښتے وۀ. چې ظالم دے ډیر بنۀ مـلاتـړ بـویـه چـې د ظـلـم د ستم بنیاد ورک شي. چې د نواب د تغیری مذکور هم وشۀ وخت نـازک وۀ د زمـانـې دور ګـردش پـه یـوۀ رنګ نـۀ دے. کله څۀ رنګ خلق درست سره په بل رنګ رابنکاره شۀ. یو شل کسه پیاده مې د بولاق نامې د میان عیسیٰ د جهانګیري بنۀ پاکیزه د کار خلمي غیش لا هسې چار د سلح د څوکی پهره دپاره راوغوښتۀ د هلال خور چې راسره وه هغه مې لا پخوا د اعظم خان دوي نه څائے غوښتلے وۀ هم هورې په ورکزیو کښې وه. زۀ به هم کله په حویلی کښې وم ملک سره درهم برهم سره د هغه کار صورت هم اګر چې هیڅ په دا حـال نـۀ شـۀ لیـدۀ. بـارې کتـل مـې چـې وګـورو څۀ مخ بنکاره شي. په وخت د نماز خفتن څلیریشتم د جمادي الاول سن مذکور خیر قلي خان سرے راستوۀ زۀ په خپله حویلی کښې له نهاري فارغ شوے تورے راته ناست وۀ چې تورے ئې راځنې وبالۀ حقیقت ئې ورته ووې چې

تحقیق نواب تغیر شۀ تاسې هم خپل فکر چې پوهیږئ هسې وکانئ. زۀ تر دا پخوا نمازدیګر خبر شوے وم خو چا تـه مې نۀ وې ورته مې ووئیل چې مونږ هم نیک خواه بد خواه دوست دښمن لرو او راشخه هم څوک نشته. اوس په حویلی کښې استوګه مصلحت نۀ ده. سبا د وختـه اورکزیو تـه تللي بویه چې کۀ یو څو وخته دلته تیر کړي بویه هم هورته به ئې تیر کړو. توري عرض وکړ چې شپـه دلته څۀ دپاره تیررو هم اوس په دا شپه به لاړ شو. ومې فرمائیل چې سواري تیاره کړه د خیبر قللي خان د ورتلو په بهانه به له دې روان شو. دوه کروهه هم زمونږ په مخ په لار کښې دي، نور سور شوم. اورکزیو ته په هغه شپه لاړم. سبا چې مونځ مې وکړو اعظم خان دوي پـه دا حال هیڅ خبر نۀ وو. ما ورته ولۀ وئیل وئیل مې چې خود به هر څوک خبر شي چې سبا د وخته هر څوک سره بنۀ به واړه خبر شول. په دربار کښې لویه هنګامه د بادشاهي خلقو وغیره برپا شوه. سعید خان [۳۷۵] دوي چې له درباره راوجاروتل وې وئیل چې حال دا رنګ پیښ شۀ ورته مې ووې چې زۀ لا بیګاه خبر وم خو نۀ مې وئیل چې خود بـه ښکاره شي. نور مې په خاطر تیر شول چې اوس مصلحت څۀ دے څۀ فکر بویه. دلته ناست ئې د یوۀ کار دپاره. د هغو بالفعل دا رنګ شۀ: د بل صوبه دار حقیقت معلوم نه. والله اعلم کلـه وي. پستنه هم جمعیت تمام نشته. پس عبث بې فائدې ناست ئې دلته د څۀ دپاره قصد د تلو مو سم شۀ اما و هیچا ته مې اظهار نۀ کاوۀ. اس د سواري دپاره راشخه نۀ وۀ محمد علي خان وته مې وکښل چې دې ما نیت هم د درتلو دے یو اس دې ما د سورلی دپاره د هلال احمد بیک وغیره درې څلورو سورو سره زر راستوه. وخت د خوید وۀ اسونه اکثر په خوید ترلي وو. یوه دوه رهوار اسـه ما پـه پښاور کښې پخوا تر دا مقدمې اخستي وو. هغه هم په خوید ترلي شوي وو. اس د سرایه رانغے. ما شخه هم هسې اس د سورلی نۀ وۀ. د سعید خان دوي نـه مې هم نۀ غوښت. توقف مې هم صلاح نۀ لیدۀ. د سعید خان اعظم خان دوي سره مې مصلحت وکړ اخر الامر صلاح د تلو وشوه لیکن سعید خان دوي ته مې تعین ونۀ کړ چې کۀ هم نن شپه به څم. یو اعظم خان مې خبر کړ همت خان د عجب خان هورته په اورکزیو کښې وۀ سره دروازه پـه دروازه دوي مو هم نۀ خبراوۀ. چې عین د تلو په وخت به ئې خبر کړو. پخوا تر دا څو شپې شوے وے چې عبدالله خان له سرایه دې ما د لیدو دپاره پښاور ته راغلے وۀ نیلی د متوالی لور ئې راوستلے وه. د خوید دپاره مې ترې ستنه کړه. پینځۀ وخته ئې خوید خوړلے وۀ. توري تـه مې ووې چې دا خپله خانه زاده اسپه دې ما د سورلی دپاره ښه ده. وچ وابنـۀ دې ورواچوي. تر هغه ځایه چې جوړه وي هم په دا به سور وم. همت مې هم په وخت د عین روانیدۀ خبر کړ. اس مې ترې وغوښت. د دۀ دوه اسه وو وئیل چې په یوۀ به زۀ سور به

خلعت کښې وم دويم هم حاضر دے هر چې حکم. په وخت د نيمو شپو راسور شوم يو تورے يو همت دا همت په هغه اس بل اس اعظم خان دا درې سوارۀ د بولاق نامې راسره نور روان شوم. نمازخفتن مې هغه اسپې ته وچ وابنۀ اچولي وو بارې قدم په قدم ئې وړاندې مټ کاوۀ. هيچرې کمے ئې ونۀ کړ. په شپه تلۀ وو بې مشعله کهاران نۀ شو وتلے مشعل مو هم مصلحت نۀ ليدۀ. قرارداد هسې وۀ چې سبا د وخته د کهاران پالکی راوړې خلوزيو ته دې رادرومې. مونږ به خلوزيو ته ورشو هورته به ارام وکړو. کهاران پالکی به هم راشي له خلوزيو نه به وړاندې په پالکی کښې تلۀ کيږي ملا بانګ وخت اعظم خان همت خان دواړه چې تر اورمړو (۱) راتير شو نور مې پسته رخصت کړۀ. لا تيارۀ وه. د بولاق نامې پياده چې په مخکښې تلۀ هسې بوميه نۀ وو د خلوزيو لار ترې پاتو شوه. د فتح خيلو د سپين کانې دغه لويه لار د منډی ئې ونيوه چې رڼا شوه معلوم شول چې خلوزې پاتې شول. مونږ ترې کښته راتير شو. د شيخ مرزا تر زيارت راکښيه مو د سبا نمونځ په تيمم سره وکړ. نور مو هم د سپين کانې لار راواخسته يوه نيزه نمر ختلے وۀ. [۳۷۶] چې سپين کانې وته راغلو هم هغه ساعت مې محمد علي خان وته وکښل د اولسې تازه سرې په لاس مې راستول چې پالکی مې په سبب د شپې د روانيدو پاتو شوه نيمه پالکی او بتياران سره مخې ته راستوه کټ مې واچوۀ پرې څملاستم چې څۀ خو ارام وکړم. له ديه نه به وروو په آهستګی روان شم. څخو ستر ګې مې پټې شوے چې بيدار شوم د کالۀ څښتن د خوراک دپاره عرض وکړ چې کۀ حکم شي څۀ تيارے وکړو ما سره حاضرې هم موجوده وه بارې په تلۀ کښې طعام خوړل معلوم، ورته مې ووې چې نور تکليف نۀ بويه کۀ څۀ شودۀ پيدا کيږي راوړې کۀ نۀ وي خير. شودۀ ورکړه موجود وو حاضر ئې کړۀ. څۀ نو اوبۀ مې پکښې واچولے وۀ مې څښنۀ لا سيده ناست نۀ وم چې کۀ ګورم د سرايه څو کيدار راغے سلام ئې وکړ وۀ مې پوښتيد چې هان وايه چرته راغلے ئې. څۀ کار دې دے؟ وې وئيل چې ملکان د بر توئ به بيايم محمد علي خان بللي دي وې وې چې پرون د امازيو داړه راغلې وه بادشاهي لار ئې ووهله. اويا اتيا غوايۀ ئې د کلالانو ونيوۀ روان ئې کړۀ. سوارۀ پياده هيه چغه پسې ورته يو څو سوارۀ پسې ورسيدل کۀ هر څو سوارۀ پسې ورسيدل کۀ هر څو منت زارې ئې ورته وکړه چې دا مناسب نۀ دي زمونږ دې تاسې سره وروړې او تاسې راشئ زمونږ په حد کښې لار وهئ مال بيايئ دا زمونږ بدنامي ده. او تاوان ئې له مونږه غوښت شي. خصوصاً په دا وخت چې خان صاحب په پښاور کښې دے دا خبره بنه نۀ ده لاس له ماله وکاږئ پريږدئ. بارې دوې د وړاندې کړے وۀ حرام خوارۀ وو. په دا هيڅ نۀ ور لاس ئې له ماله نۀ وکيښ. کليو ته ئې نژدې کړ. نور هغو سورو سره ووې چې دا هيڅ

آب زمونږ نهٔ پاتو کیږي چې په روغه موته مال راځخه بیائي او مونږ ورته گورو. البته یو عذر خپل کړے بویه سره ئې ژغ کړ پر ئې راولاړ کړ درې څلور کسه ئې ترې مړهٔ کړهٔ څهٔ زخمي شول. محمد علي خان هم په ځان پسې وتلے وهٔ وروورسید. هغه څهٔ ومړل هغه نور ئې له مرگه خلاص کړل. مال ئې راخلاص کړ رائ وست. دا مقدمه پیښه شوه. ملکان ئې په دې سبب طلب کړي دي. راسره ئې بیایم. چې په حقیقت حال واقف شوم وهٔ مې وئیل سبحان الله پاکې ده خدائ لره. په زړهٔ ئې یو وې وروپیښه بله شي. په دا هسې وخت چې مونږ هم دغه اولس ته امید د نیکۍ لرو دا څهٔ کار واقع شي. متحیر متفکر شوم. نور مې هورته درنګ توقف صلاح نهٔ لیده هم هغه زمان راسور شوم. سرورے دادین دواړه کور نهٔ وو. پوښتنه مې وکړه بهانه ئې راته وکړه چې په څهٔ کار پسې چرته لاړ دي. او دوې سونیالې ته تللي وو سره ئې خپله خبره اتره کوله چې راتیر شوم د سونیالې دادینے راغے سلام ئې وکړ په لار چې سره تلو ورو ورو مې وپوښتید احوال د دهٔ له خبرو رامعلوم شهٔ او رنګ د اولس راته ښهٔ ښکاره نهٔ شهٔ. دا ئې راته ووې چې ملک یحيیٰ هم راوبوله وهٔ مې وې سرے ورغلے دے رابللے مې دے. نور رانږدې شهٔ ورو ئې راته ووې چې ملک یحيیٰ به راشي؟ دهٔ وته خو مې هیڅ ونهٔ وې په زړهٔ کښې مې ووې چې کهٔ نهٔ راځي په غاړه به راوړ نهٔ شي. د نمازپښین نمونځ مې په مهراجې کښې وکړ نور بیا راروان [۳۷۷] شوم. ورو ورو تلم چې تر ولی راتیر شوم پالکی چې له سرایه طلب شوے وه مخې ته راغله. پکښې کښیناستم نمازدیگر په تاریخ اتویشتم د جمادي الاول سن مذکور کور ته راغلم شپه تیره شوه. سبا د محمد علي خان وغیره قوم قبیلې سره کښیناستو. ذکر مذکور کیدهٔ چې څهٔ فکر بویه. مصلحت څهٔ دے چې دوې واړو سره ووئیل چې د څهٔ مشائخ د درویز گرو نه له ځایه پاځیدهٔ صلاح نهٔ دي البته خپل عذر بویه جنګ به ورسره وکړو، دے لا هورې په جمو دے مخه به ئې گورو کهٔ غوریه خیلو ته راپریوت مونږ به بر تویو خلوزیو ته ورشو کهٔ په ښادي پور راغے نظامپور ته به ورشو هر چې خدائ کا هغه به وشي. دوې څهٔ دي چې د خان صاحب ترې ملاحظه کیږي. ورته مې ووې چې د پښاوره راغلے یم هم احوال د مهمندو راته ښهٔ معلوم شوے دے د خپل اولس احوال مې هم ولید. راته خر گند شهٔ. سیصده هم په څو ناست دا یو یو لک عالم چې راسره دے د چا چا سره به پکار شي. واړو ډیره مبالغه وکړه. چې دا کومه خبره ده چې د شیخانو نه وتښتو نور روزگار به زمونږ څهٔ رنګ کیږي. ردوبدل گفتگو سره ډیر وشهٔ. اخر الامر ورته مې ووې چې ما تر تاسو نه جنګونه ډیر لیدلي دي کړي دي دا هغه هسې کار نهٔ دے هغه چې زهٔ وینم تاسې پرې نهٔ پوهیږئ. سرائ د دهلي تخت نهٔ دے چې ترې پاځو بیا نهٔ شي نیوے. او د مشائخو علاج

دشوار نهٔ دے. بارې دا زمان صلاح مصلحت هسې دے. دا دم دا وخت به بیا په لاس را نهٔ شي. فرصت غنیمت دے چې یو ځل د دوی احوال د بنو بدو و هر چا ته ښکاره شي مل ګوندې پیدا کړو چې له هره طرفه مو خاطر جمع شي د دوی علاج د خدایٔ تعالیٰ په کرم احسان اسان کهٔ هر څو دوی وئیل بارې دې ما خاطر ته نهٔ رسیدهٔ. وهٔ مې وئیل چې تاسو نهٔ پوهیږئ زهٔ د دې کار صلاح هسې وینم نور پاڅیدم محمد علي خان ته مې ووئیل چې زهٔ لاړم نهٔ هم معطل مهٔ کوه وورکې هلکان راپسې راروان کړه رادرومه یو نیم پهر شپه کم زیات تیره وه. شومه قرار دیرشم د ربیع الثاني سن زر صل شپږ دیرش وهٔ چې تر سینده پورې وتم. نامدار د ملک جانو څو کسه نور د مصري بانډې حسن خیل مې په طریق د رهبری راسره روان کړهٔ په وخت د سحر تورو ته ورغلم هیبت خان د جلال خان ځوی کره کوز شوم. دے هم له کوره راووت. دې ما د ورتلو یوه ګونه دهشت هیبت په هیبت خان پریوت لکه وار خطا هسې شهٔ. په هر طریق مذکور ګفتګو مو سره وکړه مقرره شوه چې د کشر د مشر جرګه معرکه په ماهیارو کړے بویه. هغه ساعت مو سړے هوتي ته واستوهٔ چې سبا ماهیارو ته رادرومئ. سبا د رخته تورو نه ماهیارو ته وزغلو. د هوتي خلق هم راغے. جرګه د اتفاق سره وشوه. صلاح مصلحت هسې وشهٔ چې امازیو ته ورتلهٔ هم لازم ضرور دي. چې د دوی سره ولید شي. یو اتفاق سره وشي. اګر چې د دوی سره احسان ډیره نیکي شوې ده. لیکن په بنوره کر وهٔ هیڅ فائده پرې مرتبه نهٔ شوه. اما حال د امازیو راته بنهٔ معلوم وهٔ. رضا مې د ورتللو نهٔ کیده بارې بنا بر مصلحت وقت از روئے ضرور لاچار ګي بهر صورت مې وئیل چې بنه خبره ده. د شپې د راتللو په سبب پالکي راخخه پاتو شوې وه نامدار د ملک جانو مې پستنه واستوهٔ چې پالکی هر ځائے چې وي راورسوي او بدرقه د کمال زي مې د کلي[۳۷۸] سره مخې ته روان کړهٔ. نور امازیو ته روان شوم. ملکان چې له زړو قدیمي یارانو وو په کوټ کښې وو او په دهٔ ورغلو. نور له هغه د کهوري ګړی ته روان شوم. بهرام د کهوري ځوی کره کوز شوم. په امازیو کښې هسې سړے چې نظر ئې په شرم ننګ درنبنت دے معلوم چې څو ناکسان د مرګ د خوارۍ لکه شجاع د زماني بهرام د کهوري سپین ږیري ملکان چې نظر ئې درست په خلور پیسو دے په هر شان چې په لاس کښیوزي غنیمت ئې شماري. د امازي سره چې نیکي شوې وه ورسره مې جنبه داري وه طمع امید ورته د نیکی وهٔ. چې په تنګسه کښې به یوه ورځ پکار شي. بارې نیکي چا لیده چې په دا هسې وخت بهرام په قصد د بدی د لښکر په طلب سیصده ته سړے واستوهٔ چې هله دغه یاستئ چې په چغه راورسئ فلانه ته دا هسې کشمکش پیښ شهٔ. کلي به ئې رادرومي مخې ته ئې ورغلي بویه دنیا دولت دے خدایٔ تعالي را کړے

دے. لښکر د سیصده ترلې تنبې نقارې نښانونه د وراندې امازيو ته راغے. حق سبحانه تعالی
کارساز نګهبان تر هر چا زوررور دے چې زۀ کمالزيو ته ورغلم جرګه معرکه د نفاق سره وشوا
بدرقه د کډو مخې ته راووته هغه قابو ئې غلط شۀ کۀ نۀ وے لويه ورانه به شوې وه. او يو نيم
يار اشنا ورته ووې چې بهرامه دا څۀ فکر دے فلانه د امازيو سره څۀ بدي کړې ده چې پاداش
بدله ئې دا بويه. شرمنده شۀ انکار ئې وکړ چې لښکر نۀ وۀ بللے جرګه مې بللے وه. دې ما د
ورتلو پخوا ئې هغه لښکر هم هسې په خجالت سره رخصت کړ. په هر صورت چې زۀ هم
ورغلم يو خس پوښې سره وشوه کۀ په دغه شپه تلۀ نۀ وے شوے نور زوررور قباحت وۀ. محمد
علي خان هم وور کي هلکان راپورې کړۀ راغے. تورے مې واستوۀ اسباب سره پاتو شوے وۀ
اسباب ئې راپورې کاوۀ. اسد الله خان په هغو شپو ورځو کښې د خير آباد فوځدار وۀ. هم
هورې په خير آباد کښې وۀ له خيرآباده چې راغے دے هم دلې پاتو شۀ. چې اسباب روان کړ
زۀ به هم ورسره درومم. نور واړه اسباب پورې شوے وۀ. يو څو اوښان د سرکار پاتو وو پا
بيړی نۀ ختل. توري هغه اوښان په بيړی کښې اچول چې يو څو سوارۀ راغلۀ وخت دغه هسم
وۀ حال معلوم نۀ وۀ چې څوک دي. او هم دا دي کۀ نور هم ورپسې شته. اوښان ترې پاتې
شول. تورے پورې شۀ هغه سوارۀ راغلۀ اوښان ئې بوتلۀ. اسدالله خان چې په مصري باندې
کښې وۀ سور شۀ چې پسې پورې وځي سيند غاړې ته راغے پورې وت. توري ورته ووې چې
مونږ سره دلته هسې سوارۀ پياده څوک نشته او پورې وتل پسې په دا وخت مصلحت نۀ
دے. په ډيره الا بلا ئې ستون کړ. هغه سوارۀ د نوښهر مهمندزي وو. له نوښهره ملک بازو
ميان خان څوي ترې واخستۀ تورو ته ئې راستول. نور ئې اسباب راروان کړ راځ ور. دې
خود کډه د نورې انبوهې کډې سره په تورو شامت پور پاتو شوه. محمد علي خان د محمد
حسن خان څو کوره نور هم ورسره هوتي ته لاړۀ. [۳۷۹] زۀ هم د امازيو نه راغلم چې د کډې
خبر واخلم. د خاٸے خاٸيکي خصمانه ئې وکړم. د مصري باندې حسن خيل واړه او د سرا:
هم اکثر په کډو تورو ته راغلي وو. قبيله وابسته چې سره کښيناستو بعضې د قبيلو خلق
ملامت وکړ چې دا هسې پاځيدۀ دې مناسب نۀ وو بارې چې له حقيقته واقف شول ها
تسکين تسلي ئې وشوه. انتظار مو کاوۀ چې وګورو چې شيخان څۀ فکر لري لۀ پردې د غيـ
څۀ ښکاره شي. سرفراز ګل چې راغے محمد غياث ګل قطب (۱) وغيره واړه سره جمع شو
سرائ ته راغلۀ ځينې هم ورته راغلۀ سره جرګه معرکه شول. اتفاق د خانی ئې په محمد غيا
د قياس الدين (۱ الف) وکړ. مکرم، مجاهد هم د لاچي نه د سرفراز سره وو. د دوې هم
فکر خيال وۀ. دلته ئې حال بل رنګ وليد. دا هغه هسې رنګ کار نۀ وۀ چې لکه پخوا په خو

قبیلـه کښې وهٔ. د شیـخانو مطلب دا وهٔ چې کهٔ بیخ بنیاد د دوي وکاږو چې بدنیتي هم ورته وشـوه. نـور دواړه د ویـرې راوتښتل. په نوبښهر راپورې شول راغلل. شیخانو چې ملک مفت بې سن بې سره ماتیدو بې جنګه و جدله حلوا بې دوده ګل بې خاره بیاموند پرې وخوښیدل. ګـرمـه خـانـي ئې آغازه کړه لا په توروړمي د کوهیو قلنګ ئې څهٔ لږ ډیر واخست په راهداری وغیـره ځائے په ځائے په محالات ئې خپل سرې غلامان مقرر کړل. هر چې دښمنان وو د هغو زړهٔ ښـهٔ شهٔ باري عامو خلقو ته چې ما في الضمیر د دوي ظاهر شهٔ دا کار د دوي ورته بد ولید شهٔ چې له دوي سره د دې کار هیڅ مناسبت نهٔ وهٔ. خپله فقیري به ئې کوله. مونږ هم محضر د کـمالزي د امازي وکړ. د ملا جان محمد د فرید د ځوي په لاس مو ورته راستوهٔ. چې محضر ورکـا وعظ و نصیحت هم ورته وکاندي باري دوي ګوښي نهٔ وو سختې سختې خبرې ئې ملا جان محمد ته وکړے. ورته ئې ووې چې دا څهٔ خبرې دي چې تهٔ ئې کړے. کهٔ تمام پښتون تر بـاجـوړه پـورې راشـي دې ما خو دغه حاجي خاني ده. سپینه ئې وکښه وې څنډوله په غاړه ئې کښیښـوه. چې یو ځل به د ځان عذر وکړو ملک دې ما سر سره ترلے دے. القصه فکر د کار مو کاوهٔ د قوم قبیلې د کمالزیو د ملک سپین ږیري سره مې ګفتګو ئې مشورت هم مصلحت کـاوهٔ. ورتـه مـې وونیـل چې دا زمان د صوبه دار قدم په میان کښې نشته هر کار چې کاوهٔ شي وبـه شي. هـر ګـاه چې صوبه دار راشي نور به هالهٔ کار دشوار شي. زمونږ دې تاسې د لاسه به هیڅ نهٔ کیږي البته اوس فکر بویه. کمالزیو وونیل چې بهتر مونږ خو تیار یو بارې د امازیو سره جرګـه مـعـرکـه ضروري ده چې له اتفاقه سره کار کوؤ. از روئے مصلحت بیا ضرور شهٔ سور شوم ورغـلـم ورته مې ووې چې زهٔ راغلے یم دې ما د کار څهٔ فکر څهٔ رنګ کیږي. (۲) وخت ئې هم دا دے دوه کاره وکانړ یو ځائے راکانړ چې یوه قبیله کور دې ما په تاسې کښې هم دلته وي. دویـم دا چـې لښـکـر کښـې ملاتړ وکانړ راسره. د سیصده سرې هم د بهتر لښکر دپاره ورتـه راغـلـي ناست وو لښکر ئې ترې غوښت. یو دوي تر سیصده پورې لاچار بې عذره وو او بل مطلب ئې دا وهٔ چې څو کاره په آهستګی وې اوږدیږي هومره بهتر هر چې مونږه وایو هغه به کاندې زر به مونږ ته سیصده ته راکاندې. پس له هغه بیا هر چې کیږي لیدهٔ به شي. ځنې په شیـخـانـو څـوک پــه دوه طـرفیـنـو خـورد بـرد ئې کاوهٔ بـه شي.[۳۸۰] تمامـه ورځ بـه سره کښیـنـاسـتـل بیـګا چې به راغلل ومې پوښتیدل به چې څهٔ ئې سره مقرر کړل وبه ئې ونیل چې دې تا دپاره د ځائے په فکر یو. اخر یوه ورځ مې ورته وونیل چې اے امازیو دې تاسې د جرګې لـکـه د پشـکـال د وریځې برکت نشته. غرونه غرونه راخیژي هسې خالي تیره شي. تاسې هم چې سره کښینئ درسته ورځ تیره کانړ بیګا چې راشي ووایئ چې دې تا د ځائے فکر کوؤ کهٔ

نـهٔ وي دا نـوري خبـري دې مـا پـکـار نـهٔ دي. وخت ئې هم دا دے چې هنوز صوبه دار نهٔ دے راغلے چې صوبه دار راشي بيا هيڅ فائده نهٔ کاندي. او دې ما نه د تاسې څائے پکار دے او نهٔ د تـاسـې نـه پـولـه پـتے غوارم. کهٔ ملاتړ راسره کانئ لښکر بويه چې يو کار کوؤ. او دې ما کار هـومـره دشوار نهٔ دے خو د دوؤ ورځو بنکار دے. چې راوجاروځو بيا به په اتفاق سره د بونير (۱) لښـکر کوؤ. باري د دوي مطلب بل وهٔ. نوري نوري الديښني فکرونه محال خيالونه ئې په خـاطـر گرزيدل. د بونير (۱ الف) د لښـکـر عـذر بـه ئـې کاوهٔ. الغرض وې ونيل چې سيصده هـومـره فـرصـت نهٔ کاندي خوا ناخواه په جد دے زړهٔ بدي آزردگي کاندي تهٔ يوه هفته مهلت راکـړه چې راوجاروځو نور دې تا د کار فکر کړو. ورته مې وونيل چې د خدائ چارې دي کهٔ تـر دا ميان زهٔ يو قابو وويښم څهٔ مصلحت دے وې وئيل چې بهتره ده موږ واک اختيار درکړ صـرفـه هيـڅ مهٔ کوه. يوه څربه تپه مو درته پريښے ده. يعني د درست کمالزيو او زموږ به هم کشـر مشـر څـوک پـاتو وي هغه دې تا لښکر. بيا مې ووې چې هر کار دوه مخې لري ښهٔ بد سـره تـرلي دي کهٔ ښه شو هو المراد کهٔ يو بل رنگ مخ بنکاره شهٔ هالهٔ څهٔ بويه. وې وئيل هر چې دې وکړل زمـونـږ قـبـول. په دا قرارداد مو فاتحه د خير ولوسته څو جزائيل بردار ئې هم راځخه وغوښتل چې کهٔ دا دې د بونير په لښکر راسره وي د خان صاحب اسم ډير دے البته به پـه غليم يوه گونه هيبت پريوځي. زموږ کار به ښهٔ شي په دا وخت چې خپل ضروري دا هسې کار مهم درپيښ وهٔ د خسو سري (۲) هم پکار وو. باري په خاطر راغله چې اول دوي ته په دا هسې وخت غوښتل څهٔ مناسب لکه دوي خواست وکړ مسبب الاسباب د هر چا دے او تکيا پـه دهٔ ده. زمـونـږ د کـار سبـب بـه دے وکـا. ورتـه مې وونيل چې ښه خبره ده د تورو نه به ئې راستوم نـور راسـور شـوم راغـلـم. شـل کسه جزائيل بردار مې ورستول. نامدار هم په دا شپو ورځـو کبنې په دهوبيانو (۳) کله په لاهور (۴) گـرزيدهٔ. زموږ طمع وه چې پخوا هر چې وو دکور د قبيلې خبره وه اوس د بيگانه سره شوه په دهٔ به هم دشواره هم گرانه وي رگ د غيرت بـه ئـې پـه جـنبـش راغلے وي. راتشي کهٔ نهٔ وي ځامن خو به ئې په دا نيکه بده راسره شريک شي. باري هوښيارانو وئيلي دي بيت:

بر نيايد اين دو کار از هيچ مرد	*مردی از نامرد و نامردی ز مرد*

يـو گـونـه ظـاهر گفتگو به ئ کاوهٔ وئيل به ئې چې شيخانو وته دا کار مناسب نهٔ وهٔ. مکرم خان مـجـاهـد خان چې د ترې بولاق نه د سرفراز گل سره په يوه طمع اميد راغلي وو چې سرائ ته راغلهٔ هغه مخه ئې ونهٔ ليده بلکې د شيخانو نيت بل رنگ ورته معلوم شهٔ نور ترې وتښتل. لا ځ په امازيو کبنې وم چې دوي هم گړی ته راغلي وو دوي هم نامدار وته د دې باب څهٔ پيغام

خواب کړے وۀ. [۱۸۳] راته ئې خط راستوۀ چې مطلب مو سره يو دے خو شيخانو ته لښکر کول دي تاسي په دغه زۀ به د لښکره سره د دې لوريه جهانګيري ته درشم ليکن په سبب د کم همتي د بې غيرتي او حسد چې مونږ په هيڅ رنګ نۀ شي ګني د دې چارې فکر انديښنه ئې هم په خاطر نۀ وه. د دۀ مطلب خو هم دا دے چې دا خلق په دا ملک نۀ وي نور مغل پښتون هر څوک چې دي وي دې. اول ئې دا اميد چې شايد ما به شيخان وبولي چې هغه اميد ئې پاتو نۀ شۀ هم هسې ننداره چې شۀ کېښناست کتل ئې چې وګورو دوي د شيخانو سره څۀ وکاندې. غني د خنجر چې د مدت د دۀ رفيق د دۀ همنشين وۀ د دۀ له خويه له خصلته په زړۀ خوړين وۀ. انتظار کېښې د دې هسې ورځې وۀ چې کۀ څۀ رنګ په يوه وسيله په ملازمت مشرف د دۀ له رفاقته خلاص شم. فرصت ئې غنيمت وشمارۀ راغے د دۀ حقيقت حوي خصلت ورته واړه من و عن معلوم شوے وۀ. هميشه به ئې په تقريبات ذکر مذکور د دۀ کاوۀ. يوه ورځ مې وپوښتيدۀ چې غنيه دا به هم څۀ وائے چې سبب څۀ دے دا هسې سپک کارونه کوي. نظر زمونږ په درښت او د خپل قوم هرګز نۀ لري. وې وئيل چې د دۀ مطلب خو هم دا دے چې کۀ يوه تصديعه دې خلقو ته ورسي. لکه دوه هندوان د چا متصديان وو يو بکهو نوميدۀ بل ګورو دته. بکهو په ښه پايه ورسيد عزت حرمت ئې وشۀ البته روبکار وۀ خلق ورته رجوع شۀ. هغه بل ته خفت (۲) ورسيد. خوار بې وقار شۀ. څۀ به ئې کول باد به ئې بند کړل په وخت د فرصت به راغے د بکهو په څنګ کېښې به کېښناست باد به ئې جاري کړۀ چې بد بوئې وروورسي. بکهو به تنګ شۀ اما څۀ به ئې وايۀ نۀ شول. چې دوه درې څله دا صحبت واقع شۀ. چا وپوښتيد چې دا څۀ کړے مطلب دې څۀ دے؟ وې وئيل چې نور دست رس مې نشته. دا هومره تصديعه چې وروورسي دا هم هزار نعمت شمارم. بکهو خبر شۀ حقيقت ورته چا ووې نور ئې منع کړ سريو ته ئې ووې چې مۀ ئې پريږدئ. دا هم دغه مثال لري نور ئې لاس نۀ رسي هغه د ګورو دته باد دي. نورې زبونې زبونې سپکې خبرې ډيرې دي چې ذکر ئې شرم د مړو ژوندو دے. القصه نور مې کمالزيو سره جرګه معرکه وکړه. دوي هم ښۀ همت سره اتفاق د لښکر کېښې وکړ. په عين معرکه کېښې پروانه د نواب عبدالصمد خان له لاهوره او خط د ملک محمد خان راورسيدۀ چې په پېښاور کېښې نائب د نواب عبدالصمد خان وۀ کېښلي ئې وو چې خبر دې تا د پاڅيدو له خپله ځايه او سر په فساد پورته کول د مفسدانو راورسيد. کۀ پخوا تر پروانې د رسيدو خپل ځائے ته راغلے بهتر کۀ نۀ وي راپاسه رادرومه په هفت حالي عنقريب د فوځه سره پخوا تر خپل کوچ درروان شي. تنبيه به د مفسدانو په واقعي وشي ما وته د خدائ په کړۀ علاج د دې کار اسان وۀ هغه وخت د تمام اولسات سره

بـدي وه خـو هـم دا هـومـره مـطـلب وهٔ چې خلقو ته كردار د دوي څر ګند شي. اما تر سينده پورې راپورې لښکر کول فائده هيڅ نهٔ وه. فكر د بيړيو ضرور وهٔ. برخوردار اسد الله خان مې پـخـوا نـوښهر ته روان كړ چې د ملک باز مهمندزي (۳) سـره كـار د بيړيو د ګودر وكاندي خبـره سـره مـقـرره كـا چې فـكـر ئې بر اصـل وشي. له خايه پكار شي. پاڅيدهٔ بيا ناتمام پسته وروجـاروتل زبوني خفت يو شرم دوه كيدهٔ دي نور له نوښهري[۳۸۲] كوته انديشي معلومه. بـارې مـلـک باز د ميان خان په اخلاص كښې درست وهٔ. قلندر د ظفر خان ملک هيبت خان كهـتـړ مـې امازيو ته واستول چې ميري د كهوري څوي ته چې د بونير (۱) لـه لښکره پاتو دے ورشـي لږ ډير لښکر دې هم ورسره رفيق شي هغه نابوده په شرم و ننګ هيڅ مهٔ پوهيږه هسې وپـوهيد چې راته محتاج دے زر به راكاندې وې ونيل چې يو دې راسره نوكري مقرره كاندې چې څو سوارهٔ به ساتي او څو مدت به ئې نوكران لري. دويم پاؤ ماهه دې اګاهو راكاندي. وهٔ مـې ونيـل نوكران ساتل او پاؤ ماهه وركول كار د صوبه دار د مغل دے. زمونږ د پښتنو دا كار نهٔ دے. نهٔ مو د دې چارې توفيق شته بويه چې دا خبرې كاندې لږ ډير عالم چې څهٔ دے ورسره دې نور راځي بارې دے څوک دا خبرې څوک هرګز ئې ورته غوږ نهٔ باسته. هيڅوک رانغلهٔ نـور پـه يـوويشتـم د جـمـادي الثـانـي سـن زر سل شپږ ديرش له خپله جمعيته او د كمالزي د لښـک ِ ه سره خود له تورو او برخوردار محمد علي خان له هوتي دې ماهيارو د تورو خلق دې مـا سـره. د هوتي عالم د برخوردار په رفاقت راووتو په وخت د نمازپښين پيرسباک ته راغلو ديـره شو. د پير سباک بيړې مو هم په لاس كښيوته. د ادهيري د كلي يو نبنان ګړے د وړاندې څـهٔ پيـاده وريـسـې ګـودر تـه راغـلـهٔ هم هسې راپورې وتے هيڅوک د مقابلې نهٔ وو چې مانع مـزاحـم شـوے. بـارې ونيـل مـې چې ښـه پـه وار به وشي وګورو څهٔ مخ ښكاره شي شايد هر څـوک سـره پـوهيـدلـے پښيمان شوے وې يو صورت د كار په پرده كښې وشي كهٔ هم اوس پـورې شـو زيـان نـقـصـان بـه خټک ته ډير ورسي. شيخان هم خبر شول له سرايه يو څو تټو سوارهٔ څهٔ پياده خلق ورسره نقارګي نبنان ګوتے د وړاندې دا هم راغلهٔ. د كلال تر زيارته نمر خـاتـهٔ طـرف پـه دغـه ميـدان كښـې به راته ګرزيدل. توپچيان به ئې په سوي سينه په غنمو په اوربشـو كـښـې د سيـنـد پـه غاړه ولاړ وو پټ پټ به راغلهٔ په كنده پناهي ځائے به كښيناستل پـورې راپورې څرګند ليدهٔ شول. چې زهٔ نندارہ دپاره د سيند په كناره ناست وم هم هغه تولے بـه ئـې ويشـت. خپـل خلق مې له ويشتلو منع كړي وو يو نيم ګزار د توپک د جزائيل چې به زمـونـږ د لوريه وشهٔ وبه قهريدم. منع به مې كړل چې څهٔ مطلب كهٔ يو نيم سرے ضائع شي خو خپل خټک دې كومه فائده به حاصله شي. په پير سباک كښې بله پروانه د نواب عبدالصمد

خان او خط د ملک محمد خان مشتمل په راتلنه خپل ځائے وته په تمام تاکید راغلۀ. ملک باز نه مې ورستول چې وې ګوري. شیخانو ته ئې هم نقل واستوې. ملک باز ئې نقل ورستاوۀ اما پروانې ته چا کتل د دوې مثال د ګاؤ خر وۀ فرد:

تا خورد چوب فرمان نبرد ګاؤ خر

د نوښهریو سره هم د بیړیو دپاره جرګه معرکه ردوبدل وشۀ. د بیړیو په راکول کښې بعضو حیله حواله عذر سستې ډیره وکړه لیکن د میان خان کور ګُند جنبه وو او کمالزې مې هم په طریق د جرګې څو کسه ورستول. خواه ناخواه ئې دوه بیړی ترې راوستے. د نوښهر په منجیر ئې وتړلے. دوې هم د بیړی په برابر د سیند په غاړه مورچه بندې لیږه ډیره وکړه. د بیړیو په څوکی مې تاکید وکړ خپل جزائیل بردار او حسن خیل [۳۸۳] مې پرې مقرر کړل چې تمامه شپه ورته بیدار اوسې. درسته شپه ئې پورې راپورې سره خبرې کړے دیو به ورته نصیحت کاوۀ چې هیڅ رُخ مو نۀ دے. دا هومره چې وشوه هم دا درته ډیره وه. نور تر دا زیات درته مناسب نۀ دې. بارې تر دې خبرو تیر وو منور الدین ورته ووې چې خان صاحب وته مې تعظیم عرض کانړ چې دې تا نمک مې ډیر خوړلے دے بخشنده اوسه. هسې یاوه بې عقله هیڅ په دا منۀ پوهیږه چې دې ما سره دعوې د جنګ بیا له ما سره بخښنه غواړه. څۀ مې وئیلے وے د وئیلو ځائے هیڅ نۀ وۀ. دوه ورځې دا صحبت سره وشۀ. وپوهیدم چې هنوز هغه غرور مستې لا په سر کښې لرې تر کومه به پورې راپورې دا صحبت سره کیږې. نور مې لاچار ووئیل اخر الحیل السیف نور مې نغاره وکړه له پیرسباک نه ووتو څۀ تختې تنبې مو هم راسره په اوښ بار کړے وا مو خستے په دا قرارداد چې برخوردار محمد علي خان به د سورو سره په نوښهر پورې شې مونږ به دلته د پیاده خلقو سره په منجیر (۱) د نوښهر چې بیړی مو دغه ځائے ودرولې دې پاتو شو. هر کاه چې برخوردار په هغه پورې شې مونږ به دلته په بیړیو ورپورې شو. له دواړه لوریه هله به پرې وکړو. د دوې زور قوت واړه راخر ګند وۀ. بارې وئیلے شوې دې چې کۀ دښمن اګر چې شغال ګیدړ وې هم تعبیه جوړښت ورته د مزرې کړے بویه. د دیو وار خطا وۀ تش خالې یو نمود ئې راته کاوۀ (۲) دارو ګولی هم ورڅخه نۀ وے چې چا به ترې غوښتے څو جاهلان به ورسره وو هغو ته به ئې وئیل چې شګې پکښې اچوئ. او دا به ئې هم وئیل چې په بیړی به راپورې نۀ شي ډوبه به شي. غلطې غلطې خبرې به ئې کړے طمع ئې نۀ وه چې راپورې به شي. بارې زمونږ نقاره وشوه سوارۀ پلې تنبه تنبه تولې تولې خلق (۳) د پیر له کلیه ووت. زرۀ ئې له ګوګله والوت. زۀ هم په موجب د قرارداد خود پیاده خلقو سره په منجیر پاتو شوم. محمد علي خان سره د سورو نوښهر ته لاړ چې یوه دوه بیړی له

سورو ورپورې شولے. (۳) نور هم پسې پورې وتل. چې ناګاه کۀ مو کتل يو سور په بادشاهي لارې د سرائ پـه لـورې په لغت يک جلو پريښه ورروستو ئې هم نۀ کتل هسې مخ په وړاندې تـۀ. پسې بل پسې بل. دا هسې اووۀ اتۀ سوارۀ پرله پسې په تيښته لاړل. وې مې چې دا سوارۀ لاړل مـعـلـوم شـول چې نـخښـه ئـې د تيښتې ده. تحقيق چې حال معلوم شۀ تاب ئې رانۀ وړ فـرصـت ئـې غـنـيـمـت وشـمـارۀ. او هـم هـغـه هسې وو لکه وونيل شو. نور دوې هم حرکت مـذبـوحي يعني پر کيدۀ د حلال شوي وکړۀ. څۀ لږ ډير خلق ئې په مورچو ناست وو مونږ ورته راپـورې مـورچـه بـنـدې کـړې وه. هغه نور خلق بيارته وو دا تر جزائيلو لاندې تيښته پاڅيدل ورتـه دشـوار وو. بـارې لاچـار چې بل علاج ئې نۀ وۀ له مورچو افتان خيزان په بد رنګ په بد حال ګريز شول. شکست پرې ګډ شۀ. بد ساعت وۀ لکه قيامت نفسانفسي هر څوک په ځان تـښتيـدل. جـزائيل بردارو چې ګزارونه وکړل يو دوه کسه لې ترې وويشتل پاتو شول. چې دا پيـاده خـلـق ورپـورې شـۀ مـرۀ ئـې کـړل. دلته پياده خلق په کشتيو کښې پورې شۀ. د ګودرو پـورې کيدو موافق نۀ وو يو دوه بيړۍ خلق پورې ووت. [۳۸۴] هغه سوارۀ چې اول په نوښهر پورې شوي وو يک جلو ئې پسې راغورزولے تر بدربڼيو (۱) پاس په پياده ۇ پسې راورسيدل امـا حيـلـه ئـې پـورې وکـړه نـۀ ئـې وژلۀ يو نيم اجل رسيده لکه جلات سينے يو نيم بل ومړل. نـامشـائـخ لـه هيبته د ځان غورزنده پرزنده تښتيدل. په کنده په بوټي کښې پټيدل. يوسفزے خـلـق چـې راپورې شۀ لاس ئې په لوټ تاراج کښيښو. په ډهيرۍ ئې اور پورې شۀ. د پير زين الـديـن پـه کـلـي هـم د لوټ دپاره راغلۀ واړه لوټيري حرام خور خلق دورته ئې هم نظر بد شۀ دست انـدازې ئـې وکـړه د خـدائ تعالیٰ بنۀ وو برخوردار محمد علي خان لږ ډير خلقو سره وروورسيـد. مـال اسـبـاب د هـر چا دورته د پير زين الدين د خامنو کره پروت وۀ. فکر ئې وکړ چې زوررور قـبـاحـت وشـۀ. نـور کار ئې واړه تر شا کړ هم دغه د پير د کلي ساتنه ئې وکړه. او غـنـيـمـت ئې وشمارۀ. په ډير جرثقيل کوشش سره ئې خلق منع کړ. کلے ئې وساتۀ برخوردار اسـد الله خـان مـحـمـد اشـرف تـر زيارت سپين کاني پورې ورپسې لاړۀ. زيارت ئې وکړ نور راوجـاروتـل. شيخان واړه په زيارت کښې د ښځو سره ننوتل پټ شول. ځنو چې وار بيامونډ چيـمـاغـونـو ته ننوتل هسې پرې وپوهيدل واړه ورته معلوم وو بارې د زيارت ادب ئې وساتۀ. هيـڅا ته ئې څۀ ونۀ وے. په مال په سرېو ئې هرګز غرض ونۀ کړ. منور الدين د عباس تاج خان ځينے ژوندے دستګير شول. يو نيم اجل رسيده قضا نيولے لکه جلات ياسين خيل وغيره. هغه دوه بيړۍ پـيـاده خـلـق چـې پـورې شـوے وۀ. نـور مـې وونيل چې بيړۍ کښته رالاهو کانړ د ګرداب په برابر به مونږ هم دا همه لښکر پسې پورې شو. چې ګرداب ته راغلو نمازديګر وۀ

مصلحت مې هسې وۀ چې دا خلق هم پورې ورځې چې واړه سره يو ځائے شو. شپه به تيره کړو. سبا به بيا هر چې صلاح مصلحت د وخت وي هغه به کيږي. ليکن هيبت خان د جلال خان وغيره سپين ږيرې ملکان د کمالزي چې راسره وو وې وئيل چې غليم متفرق شۀ په تيښتنه په بدحال لاړ. د مقابلې طاقت ئې نۀ وۀ بل هسې ضروري کار نشته. دا پورې کلي ئې هم اکثر وسول کۀ باد باران وي د شپې تيرولو ځائے هم معلوم او چې دلته پورې شو بيا سرائے ته تلۀ کيږي دا هم خيلې تصديعه ده. صلاح هسې ده چې شپه مصري باندې ته يوسو. اګر چې تشويش خاطر په سبب د برخوردارانو وغيره خپل خلق چې په ماتې پسې وو ډير وۀ. اما هغه دوه درې بيرې خلق چې پورې شوے وۀ په اسماعيل خيلو ئې هم اور پورې کړ. کۀ هر څو وونيل شول چې د ډهيرې کلے دښمن وسۀ چې وسۀ بارې نور کلي واړه خپل دي سول ئې مناسب نۀ دي. بارې چا منل. هيبت خان وغيره کمالزيو هم پورې راپورې منع کول هرګز لې پرې نۀ غوږ باستل. چې مۀ کړئ لاس مو نۀ رسيدۀ هسې مو ورته کتل نور مې مصلحت د دوې خوښ شۀ راروان شو. نمر په پريواتۀ مصري باندې ته راغلو ديره شو. محمد علي خان هم نماښام د پيره له کوروننو راسور شۀ نماز خفتن سرائے ته راغے. [۳۸۵] اسد الله خان محمد حسن خان محمد اشرف خان دوې هم روغ جوړ سلامت راوجاروتل من وجه جمعيت وشۀ وتړ سوريا خيل کرم پور هم وسول. لوټ غارت ډير وشۀ د سيند غاړه کلي تر نرۍ کټې ميلې پورې اکثر تاخت تاراج شول. د خدائے تعالىٰ ښۀ وو چې زۀ راپورې نۀ شوم کۀ نۀ وے زيات خلق دې مّا سره وو کۀ واړه راپورې شوے وے نور به هيڅ پاتو نۀ وو العياذ بالله ګوره چې څۀ مخ ښکاره شوے وۀ. سبا د وخته دا راپورې خلق سره جمع شۀ چې د پير زين الدين په کلي ډير مال دے ورځو محمد علي خان ترو قبول نۀ وۀ وې وئيل چې دا څۀ مناسب نۀ دي اول هر چې وشول بارې اوس دا هسې نۀ بويه دا خلق واړه رعيت عالم دے. خصوصاً دا د پير خامن زمونږ خانه واده پيران دي په هر صورت په ډير الا بلا ئې منع کړۀ. نور مې د بلې شپې مصلحت نۀ وۀ. هيبت خان دوې ته مې ووې چې اوس هسې کار راپيښ نشته صلاح هسې ده چې سوارۀ دې محمد علي خان سره پاتو شي. مونږ دا پياده به سره پياده درومو نماز پښين کوز په څليريشتم د جمادي الثاني سن مذکور له مصري باندې ورروان شو. تورو ته نماښام ورغلو. تقدير زورور دے. متل دے چې کۀ ژوندي خدائے تعالىٰ نۀ شرمولے د مړو باد به نۀ وتل. شيخان څوک دا خبرې څوک. دا په معنىٰ کښې هغه د مړو باد وو. ورځ د چا بده مشه واړه شامت زمونږ چې لکه د کوړو چرګ خودبخود خپل ستونې پخپله چاړۀ پريکوۀ. زمونږ هر چې څۀ وو چې په وخت د تلو يوسفزيو ته تاخت تاراج شول. چې مې په خرڅ د يوسفزيو

وخوړول د کوره خرڅ ورکوه خپل خټک پرې وهه او هنوز منت د يوسفزيو راباندې چې تاسې دپاره لښکر کښې کوؤ. د الوس خلق په دا تردد کښې اکثر لوټ شۀ. د شيخانو د درويزې د شکرانې پيسه توره چې په هزار الا بلا چې لږه ډيره ورځخه جمع شوې وه لکه مار لړم په دوي ولګيده. په هسې خلقو چې نۀ په دين پکار نۀ په دنيا، وخوړوله. او هيڅ د دوي نابودو کوته انديشو دا فکر انديښنه په خاطر نۀ راځي. او هيڅ مۀ پوهيږه چې دا خانه خرابي زمونږ ده يو اتفاق ئې سره وکړ بلکې هنوز ه چا سترګې سرفراز و غياث الدين وته ختلې منتظر ناست چې کله به راپيدا شي. د چا نامدار وته دوه سترګې څلور. القصه شيخان چې هزيمت زده شکست خورده په بد رنګ په بدحال خلاص شول. سرفراز هم هسې شان افتان خيزان وتښتي شپه ئې په زاخيلو د ملک عاشور کره تيره کړه نور پير زاخيلو ته راغے. محمد غياث وغيره په شپه شپه د کډو سره په نوښهر پورې شول. حسن خان ته په طريق د نتواتې راغلۀ کښيناستل. هيبت خان وغيره کمالزيو ته ئې څواب راستوۀ چې زمونږ د لاسه لويه غلطي وشوه. کۀ د صلح مصالح يو صورت مو دې تاسو په واسطه وشي نتواتې مو درته راوړې ده. واړه راغلۀ راته ئې ووئيل چې کۀ هر څو لويه بدي د دوي نه وشوه بارې د دوي په بدو نظر نۀ بويه. د شيخ جيو عليه الرحمة او زمونږ د مخه دې عفوه شي کۀ هر څو لوے شوے بارې د دې بيت:

دشمن که به عذر شد زبانش — ايمن مشو — مرانش

سترګې د دوي په بدی کوزې کړے ورته مې ووئيل چې ښه خبره ده اما په دوه شرطه يو چې په صلح هډ ونۀ کاندې نۀ پټ نۀ څرګند بلکې کۀ چا کره صحيح شوه ګنهګار لازم [۳۸۲] دويم دا چې په دا زمان دې په زيارت کښې اوسي. په سرائ، ډنډنګ، ايسوړي، ډنګرزي هر چرته چې په دا ځايونو کښې د دوي رضا وي استوګه دې کاندې. پخوا مو سره اعتبار کۀ لږ ډير دواړه لوريه څۀ واقع شي جانبين به وسواس وي. چې طرفين د دوي زمونږ اعتبار حاصل شۀ بيا هر وخت هر مصلحت موافق د وخت سره به کار کيږي. دا ئې هم ووئيل چې خان صاحب حسن خان ته ورشي او له هغه نه ئې د خانه سره راولي د خان صاحب هيڅ کمے خدائ تعالیٰ مۀ کړه ونۀ شي. او د دوي به يوه آبروئي وشي. دا مې هم قبوله کړه چې لکه تاسې وايئ هيڅ مضائقه نشته. اخر الامر ورغلو سره مې وليدۀ. د حسن خانه مې راروان کړۀ تورو ته مې راواستوۀ. قياس الدين خو سرنګون د شرمندګی سر نۀ شۀ پورته کولے. بارې محمد غياث هومره کم عقل سفيه ياوه ګوئ چې دا هسې بدې له لاسه شوے بيا په دا حال له اوله زيات اميدوار د نيکی د احسان چې ګويا هم تردد ئې زمونږ دپاره کړے، په هره خبره به

ئې وخندل. قسم به ئې وکړ پوچ پوچ به ئې وئيل هيڅ مهٔ شرميږه. مهٔ پوهيږه. سخن کوتاه. پـه هـر صـورت د هغه مې په قرارداد سابق محمد علي خان وته چې په سرائ وهٔ راستول. چې دلته راغلل د زيارت استوګه ئې پريښوله پرې دشوار وو. محمد علي خان ته ئې ووئيل چې کهٔ د زيارت نـه پاخو نور زمونږ استوګه د ختک په ملک کښې نهٔ کيږي. بنا بر مصلحت وقت محـمـد عـلـي خان استوګه د دوي په زيارت ومنله. ماته ئې وکښل نجابت خان تورے ئې هم راستول. ما هم بنا د دهٔ په کښلو وئيلو په هر حال قبوله کړه. وهٔ مې وئيل چې ښه لکه دې تاسې مـصـلـحـت دا هـسـې دے دې مـا هم قبول. باري وئيلے شوي دي ګنهګار را هر چند دلجوئي نـمائي ګمان او بيشتر شود. په هيڅ وجه تسلئ جمعيت خاطر ئې ونهٔ شو. خپل کردار به ورته غـرونـه ودريد. نور لا زهٔ هم هورې په تورو کښې وم چې له زيارته پاڅيدل او سرفراز تر دوي پـخـوا وتلے زاخيلو ته تللے وهٔ. دوي هم له کوررونو سره په نوښهر راپورې شول. دلدار برهان پـه نوښهر کښې پاتو شول قطب الدين حسن خان ته راغے. قياس الدين غياث الدين سه ډهير (۱) ته لاړل. وخت نازک باريک وهٔ. صوبه دار تغير شوے د بل د راتلو حقيقت معلوم نهٔ وهٔ. صـوبـه درسـتـه درهـم بـرهـم. مـصلحت مې هسې وهٔ چې صوبه دار مستقل را نهٔ شي د ملک بـنـدوبست يو صورت نهٔ وي څو ګاهه هم دورته په يوسفزيو کښې تير کړې بويه. وګورو چې څـه مـخ بنـکـاره شـي. ليکن پروانه د نواب عبدالصمد خان له لاهوره په ډير تاکيد سره راغله چې زر تر زره خپل خائے ته رادرومه. په دا باب خطونه د ملک محمد خان له پښاوره متواتر پے در پے هم راتلهٔ. لاچار بنا بر ضرور کده مې پريښوه خود جريده په اتم د رجب سنه زر سل شپږ ديرش(۲) راسور شوم راغلم. بنا بر تقاضائ وخت خپله استوګه مې په مصري باندې مقرره کـړه. د خـائـے په سازونه مې په مصري کوټ کښې شروع وکړه. لاس په لاس[۳۸۷] په څو ګـاهـه کـښـې يـو څـو کـوټـې سـازې شوے. نور مې د امازي کمالزي سپين ډيري راوبلل چې جـرګـه مـعـرکـه د اتفاق سره وکړو ورته مې ووئيل چې وخت دا رنګ دے لکه ليدهٔ شي د ما کـوررونـه قبيـلـې دغه دي دورې په تاسې کښې دي کهٔ په اتفاق سره ئې راولئ بهتر چې کهٔ يوه بنـه بـده مـخ ښکاره کا په هر کار راسره رفاقت ملګيري وکائ. له خپله لاسه مې پخپله خائے کـائـئ. دوي هـم واړو اتفاق راسره وکړ. رخصت مې کړ او پنځوس روپۍ مې امازيو ته وجه انـعام ورکـړے چـې سـوارهٔ پياده مې د امازي کمالزي ستنه کړهٔ چې دلته راڅخه وي چې دوه درې شپـې ئـې وکـړے د امـازيو سوارهٔ له ديه به بې رخصته روان شول کور ته تلهٔ په ميره ئې د عـلـي مـحـمـد د کلي له يوهٔ شپانهٔ ئې څهٔ څادرګے شړې رانيوه سره چغه وشوه اواز وشهٔ. چې مال ئې بوت هر څوک سره په هپه په چغه ووتل. محمد علي خان هم پسې سور شهٔ تر واړو

پـخوا محمد اشرف د ځو سورو سره وتلے وۀ. هيڅوک ئې ونۀ ليد چې تر ځايه ورغے هورته
د رخـړو مال څريدۀ بدرقه هم ورسره وو. چې دا سوارۀ ئې له ورايه وليدل وسواس ئې پيدا شۀ
خپـل مـال ئې د وړاندې کړ روان شول. محمد اشرف دوي وکتل وې وئيل چې شايد هغه مال
زمونـږ د خلقو هم دا دے. تردد ئې د خلاصي وکړ هغو خپل مال وساتۀ په غلطي سره قباحت
شوے وۀ باري شکر چې يو نيم سور د کمالزيو هم ورسره وۀ وې پيژندل چې دا رخړ دي خپل
مال ديو سورو د ويرې سره ټول کړے دے. هغو کمالزيو په ډيره سختي سره منع کړۀ. محمد
علـي خان هم پسې ورسيد. نور ئې ووې چې اوس کورونو ته نژدې راغلي يو دوه شپې به دلته
وکـړو. هـم له هغه نه تورو هوتي ته لاړل. نور ئې کډه هم راطلب کړه. په تاريخ دوه ويشتم د
رجـب سن زر سل شپږ ديرش کډه هم برخوردارانو راروانه کړه راغلۀ. نور مې حکم وکړ چې
هـر څـوک دې پورې ووځي. برخوردار محمد علي خان مې هم د خپلو کورونو سره راپورې
مـقـرر کـړ. او خـود د خپـلو کورونو سره د مصري بانډې په کوټ کښې پاتو شوم چې کوټې
پـخوا سازې شوے وے. د دې نورو ځايونو د مازولو تردد وشۀ. لرګي وغيره مصالحه سربراه
شـوه. ځـايـونـه هم دست بدست تيار شول. نواب نصير خان هم چې تغير شۀ بادشاهي خلقو د
طلـب تـنـخواه دپاره مناقشه خرخشه ډيره وکړه. رسوائي خفت ئې تر حده زيات وروړساوۀ.
دے خـود نـا آزمـوده کـار متـصـديان ناپکار په خبرداري سره ئې خرڅ په موافق د دخل نۀ وۀ
کـړے خپـل سپـاه ئـې تر قدر حاله زيات وۀ. په اعتماد د دې چې د اشنغر وغيره نه به وصولي
وشـي ور به کړ شي هغه چې دۀ تصور کړے وۀ په وقوع رانغے. د سپاه د خلقو طلب اوښتے وۀ
غـوښت ئې. خزانه نۀ وه. الاخر په تمام بې عزتي بې حرمتي سره اس تنبو وغيره سپاه خلقو په
طلـب کښـې تـرې واخسـت. پـه بـدرنـګ پـريشان احوال په قصد د حضور د تلو روان شۀ.
يـوسـفـزيـو عـالـمـو هم تقاضا خواهش د طلب د تنخواه کاوۀ. پخوا تر دا ئې ما وته په دا باب
مـکـرر خـطـونـه راستول. محضر ئې هم په جمع امازي کمالزي راستوۀ. ما هم ملک محمد
خـان او خيـر قـلـي خان وته حقيقت وکيښ ور مې ستاوۀ. چې يوسفزے خلق هم تقاضا د خپل
طلب تنخواه کوي او دې ما احوال[٣٨٨] هم دا زمان معلوم چې قبيله مې لا هورې په معنیٰ په
دوي کښـې ده مـوافق دارمدار ورسره کاوۀ د دې چارې فکر مصلحت څرنګ مناسب ګني.
ضـرور لازم خـطـونـه محضر مې هم په جنس ورستول. باري صوبه دار څخه زر خزانه معلومه
چې څـۀ جنـس ئـې وۀ هـغـه ئـې هـم بادشاهي خلقو او سپاه خانګي ته ورکړے وۀ. په بدحال
رااووت. دلتـه جرګه د امازي کمالزي راغله په پيرسباک ئې ډيره ونيوه ما وته ئې څلور پينځۀ
سوارۀ راستول خواب ئې ورته کړے وۀ چې مونږ هم د جرګې په طريق راغلو خپل طلب خواه

ناخواه غوښتوني يو. كۀ راكوي هو المراد كۀ نۀ وي لښكر به راغواړو بېړى راكړه چې ګيدړ ګلـى ورتـه ونيسـو ګـورو چې دے څۀ رنګ تير شي. د دوي سره لاچار دار مدار ظاهر كاوۀ شـۀ. نـجـابت خان تورے مې سره بېرته ورستول ښخوس روپۍ مې وجه ميلمستيا ورستولے د نواب شپـه په نوښهر وه قاضي غلام چې وكيل د يوسفزيو وۀ ورته ئې راستوۀ. صوبه دار څخه څۀ نۀ رو لښكر د يوسفزيو هم تيار نۀ وۀ چې بل فكر ئې كولے. په هر صورت طرفين يوه ګونه خـس پـوښـې سـره وكړه عذر ئې وكړ څۀ لږ ډير ئې ور كړ: برخوردار محمد علي خان ته مې ورې چې د نواب كار زمونږ سره معلوم زۀ خو ئې ملازمت كوونے نۀ يم. نۀ به ورشم. بارې په هـر حـال تۀ مخې ته ورشه هنوز لا د يوسفزيو اتفاق د لښكر سره نشته يوه جركه هم راغلے په بېړى كښې نـاسـتـه پـه هـر طـريـق زر ئې راروان كـړه چـې دا زمان قابو دے فرصت غنيمت روالـيـدل پـه هـر صـورت پـه دا وخـت مصلحت چې تنسته سره وشليږي. محمد علي خان د سـورو پـيـاده ؤ جـمـعـيت سره مخې ته ورغے ملازمت ئې وكړ. په اووۀ ويشتم د شعبان زر سل شپږ ديرش (۱) سرائ ته راغے ډيره شۀ. په هغه سبا ئې كوچ وكړ. محمد علي خان په خدمت تـر خيـر آبـاده ورسـره لاړ. نـور تـرې رخـصـت شۀ راغـے. سرفراز چې له پېر سبا كه په تيښته پښـاور تـه لاړ وۀ په زاخيلو كښې ناست وۀ په عالمانو شيخانو څائے په څائے ګرځيدۀ. ويل به ئـې چـې حـق دې مـا فـلانه لاندې كړے دے. شريعت دې راسره وكاندې. تاسې مدد ملګيري راسـره وكـانـئ چـې خـپـل حـق بيامومم. په دا وخـت د پښاور د علماؤ ښۀ تسلط شوے وۀ. په حـكـامې معاملات كښې هم دخيل وو. خبرې سره ګرزيدے لا زۀ په تورو كښې وم چې اخون قاسم چې په دا اوان كښې مقتدا د پښاور د علماؤ وۀ او شيخانو سره ګونه پيوند د اخلاص ئې درلـۀ آمـدورفـت ئې ورسره كاوۀ لكه پس د وقوعې د دې مقدمې چې مشائخ په سرائ ناست وو ورتـه راغـلـے وۀ. مـلـك بـاز نـوښهري ته ئې په دا مضمون خط راستوۀ چې تا بد وكړ چې بېړى ګودر دې فلانه ته وركړ. ما خو درته ويلي وو چې مونږ به ئې تر مينځه شو صلح به ئې سـره وكـړو هـغـۀ خـط په جنس ملك باز د خپله خطه راستوۀ. ما هم په خواب كښې دا خط وكيښ ور مې ستاوۀ. هغه خط دا دے.

برادر ارشد دار جمند ملك باز خان جيو همواره خوش وقت وسلامت باشند۔ خط خيريت نمط شار سيد۔ حقيقت معلوم شد در باب مصالحۀ سرفراز نوشته بود يد او را با ہيچ شركت نيست و مارا با و ہيچ شركت نه۔ اگر بعلماء دعوىٰ شرعی مينمايد جائے عدالت شهر پشاور كه نائب صوبه دار و قاضی [۳۸۹] بادشاہی و مفتی و علمائے عظام در آنجا موجود اند رفته بنشيند فقير هم وكيل خود را مقرر خواہد كرد اگر موافق شرع چيزے اثبات خواہد كرد و اگر به او ثابت شد حق به حقدار خواہد رسيد جائے عدالت اكوڑه و راہداری اكوڑه نيست فقير به حكم بندگان نواب صاحب قبله ملك و جاگير خود را از متمردان خالی كرده نشسته ام و بنا بر حق روادار يك فلوس ہيچ كس نيستم ہر كه از راه حق گردن تابی خواہد كرد ببلائے بد گرفتار خواہد شد مارا نيت بخير است خبرم دہی۔ فقط۔

او ماته ئې هم خط راستوۀ په جواب کښې ورته دا خط وکيښ شۀ:

فضیلت و کمالات دستگاه قدوة العلماء زبدة الفضلاء حضرت اخوند محمد قاسم جیو بعد از ادائے سلام مبرا ٰن رائے عالی میگرداند۔ کرم نامۂ مصالحت شامہ کہ موشح بہ الصلح خیر بود رسید از گفتار ہائے پریشان عام عام قریب خاطر مجموع گردید چون قدم مبارک آن مورث النبی درمیانست انشاء اللہ در آنچہ خیریت کافۂ انام بود بمنصۂ ظہور خواہد آمد اگر چہ پند بہ آنجناب موجب بے ادبی است لیکن عرض احوال خود و یاران روزگار بسمع مبارک رسانیدن مقرون مصلحت۔ ہر چہ راہ طریقت مشائخ و بزرگان است از آن مہربان پوشیدہ نیست کہ ایشان را اللہ تعالیٰ برائے پاکی نفس آفریدہ اند۔ بہ نیکی شکر بسیار و بہ بلا و مصیبت آسمانی بصر کوشیدہ اند امروز آنچہ بنظر ے آید از صاحبان این طریق بخلاف آن بنظر می آید۔ این مقدمہ کہ روئے دادہ از ین دو شق بیرون نخواہد بود این ہمہ تصدیعات بہ خود کشیدن و بخلق خدائے تعالیٰ کشادن بہ عقل ناقص میر سد کہ طریق مروت و جوانمردی نیست در خط سامی ایمائے رفتہ بود کہ وقت تشریف آوردن بزیارت شیخ جیو علیہ الرحمۃ پیغام بہ شما کردہ بودم مہربانان پیغام موعود را کسے بہ واقعی نہ رسانیدہ بود چند روز آمدن بوطن مالوفہ کہ در توقف بود محض برائے انتظار تشریف آوردن قدوم میمنت لزوم بود نظر برین ہر گاہ بخیریت تشریف آوردند و خبر مہجوران و بے وطنان را نا گرفتہ برگشتند ناامیدی کلی حاصل شد بجائے دیگر امید نہ ماندہ نظر بہ پریشانی خورد و بزرگ نمودہ چون حق بہ طرف خود میدانست آیت **یـد الله فوق ایدیهم** خواندہ دست بالسیف اخرالحیل انداخت تا چہرہ آیت **کـم من فئة قليلة غلبت فئة كثيرة باذن الله** ۔نمودار شد فقیر را چون آن مہربان را آیہ خیر می داند اختیار نیست ہر چہ در باب این نحیف توجہ خواہند فرمود عین مصلحت خواہد بود۔ اختیار ایشان ست اما اشارت در خدمت میر و داز بدست آوردن مقصود نگہداشتن مقصود بزرگ تر است شخصے کہ نگہداشتن نمی داند یقین می نماید کہ بہ دست آوردنش ہم میسر نخواہد بود بے سبب در افغانان مثل مشہور است **په هغو کسانو چې ودانه پکلې ورانه شوه اوس ورانه پکلې کله ودانيږي. بيت:**

ستیزہ بجائے رساند سخن   کہ ویران کند خانمان کہن

بہر حال فقیر متابع رضائے آن مہربان است یک ایلچی معقول پیش از [۳۹۰] ورود امر برسد تا از مرضی مبارک ایشان واقف شدہ در آنچہ رضا باشد متابعت نماید۔ **او محب الله د محمد خان وته هم چې ارباب د پښاور وۀ ورغلے وۀ هورته نې هم دغه رنګ اظهار کاوۀ چې حق مې فلانه لاندې کړے دے خپل حق غواړم مدد راسره وکړه چې حق بیامومم. دۀ هم خط راته وکيښ. دۀ ته مې هم په خواب کښې دا خط وکيښ. هغه خط دا دے:**

خان سعادت نشان جوان بخت مہربان قدردان ملک جیو سلامت نامۂ عطوفت شامہ کہ بعد از مدت متمادی یاد فرمودہ بودند رسید باعث نہایت خوشوقتی شد سرفراز گل مردیست روستائی بکار ہائے کسی کہ ایشان را از پدران میراث رسیدہ محال است آدمیان دخل نہ دارد عطائے الٰہی است کہ مراتب محبت خود را بکسے ارزانی داشتہ است بالفعل آنچہ بنظر می آید ایشان خود را از ان کار بکار ہائے دیگر مشغول داشتہ است کار یکہ ایشان را بدین و دنیا بکار نمی آید **يهدى من يشاء و يضل من يشاء** ملک خیرآباد و اکوڑہ جاگیر بادشاہی است وز قدیم الایام ما مردم را بادشاہان در تنخواہ منصب دادہ اند۔ چنانچہ خدمت شاہراہ و بند و بست اولوس کردہ میشود عزل و نصب تمیز ظالم و عادل از نوکران خود بادشاہان را می شاید نہ گدایان را، اگر ایشان را خدائے تعالیٰ توفیق بدہد بہتر از پدر کلان خود راہ دیگر نیست و اگر پیشوائے کار

هائے دیگر گردد ہر کہ بہ ایشان رفاقت کند یقین کہ از مظلمۂ دین و دنیا خالی نخواہد بود۔ واو اگر او دعویٰ شرعی با کسے داشتہ باشد از دعویٰ حق ہیچ کس را چارہ نیست ایشان کہ ارباب و سردار ماند جائے ثالث بہتر ازین جانیست و این دعویٰ بالشکر کشی محتاج نیست یک فاضل بزرگ متدین پرہیزگار نزد آن مہربان بنشیند اول حقیقت دعویٰ او را مفصل بنویسند کہ کدام دعویٰ دارند تا از حقیقت دعویٰ دینی و دنیوی او واقف شدہ وکیل خود را مقرر کردہ روانہ نماید تا کہ ہر چہ اثبات شود بہ آن مہربان و جمیع اہل علوم معلوم خواہد شد۔ بعد ازان ہر کہ از حق گردن تابی نماید استمداد او لازم باشد امانہ برین قانون کہ ہنوز دعویٰ معلوم نہ کہ حق بجانب کیست بدون امر صدر و قاضی و بادشاہی چنین ہنگامہ آرائی بطور خود کردن مظلمہ این خونہا و تاراجہا بگردن کہ خواہد بود قطعہ۔

اگر صلح خواہی نخواہیم جنگ — دگر جنگ جوئی ندارم درنگ
دم از مہرزن یا بہ کین دہ پیام — حکایت برین ختم شد والسلام

کهٔ هر څو خواب باصواب کیدهٔ اما دوي څوک حق څوک ناحق لکه وئیلے شوي دي بیت:

شــریــعــت پــه مـخ سپـر وړي — پـکښـې نـغښتـې خپل هنر وړي

چې دا هـنـگامه آرائي ئې د علماؤ د ټولي وکړه فکر مې وکړ چې دا طائفه زوررور خلق دي او زمـانـه اخـره دهٔ وخـت دا رنګ نازک تدافع ئې لا د اول چې هنوز ئې جمعیت نهٔ دے شوے از جمله ضروریات بیت:

علاج واقعه پیش از وقوع باید کرد — دریغ سود ندارد چو رفت کار از دست

[۳۹۱]بـنـا بـر احتیـاط مـې بـرخـوردار اسـد الله خـان اشنغر ته واستوهٔ عبدالله خان توړے مې ورسـره روان کړهٔ چې ورشي د اشنغر عالمانو او داؤد خان صدیق دوي سره ووینۍ نیک و بد سره ووائي او گانده محمد مکرم مې پښاور ته واستوهٔ چې هوره دې ناست اوسي. حقیقت ښهٔ بـد چې وي رارسوي او د ښهر او د کلیو علماؤ سره چې څهٔ رنګ مناسبت لري ذکر مذکور کـړئ. د اخـوند قاسم سره ئې په ښهر کښې ولیدل واړه له اوله تر اخره چې څهٔ وو په ښهٔ وجه ئې ورتـه بیـان کـړ چې پـه حقیقت کماهي واقف شهٔ د اخوند مکرم سره ئې دا رنګ قرارداد رکـړ چې ښـه د شیخ جیو اولاد دے په اهل علمو ئې ننواتې کړې ده د هغه بزرګوار د رویه به سـعي تلاش ورسره وکړو. تر یوهٔ خایه به ورشو کهٔ یوه صلح صلاح ئې سره کیږي ممکن دے بهتـره بـه شـي. زمونـږ بـه هم یو ګوته مخ روني وشي او کهٔ نهٔ وي خیر عذر به مو وشي را وبه جاروخو. سرفراز ګل به په ظاهر هم دا رنګ وئیل چې زهٔ مظلوم یم حق مې لاندې شوے دے. زوررور دې حق نـهٔ راکـوي. تاسې اهل علم راسره مددګار شئ چې حق بیامومم او خبث باطن چې فـسـاد انـدیشـي ئـې تـصـور کـړې وه پـټ درلـهٔ. مطلب دا چې کهٔ پیش رفت د کار وشهٔ هوالـمـراد او کـهٔ نـه یـو نیم طالب علم به ومري لویه ورانه به وشي خود به نور عالمان پکښې ګرفتار شي. د خپل مطلب دپاره به سعي کوشش کوي. نور د پښاور عالمان شیخان سره په

اکبر پوره جمع شول په دا اتفاق چې گنبتي وته به د اشنغر علماء هم راوبولو چې په جمع مصلحت سره وکړو. سړي ئې د اشنغر علماؤ ته واستول اسد الله خان چې پخوا اشنغر ته تلے وهٔ د خان صدیق او د علماؤ سره ئې حقیقت وئیلے وهٔ له احواله ئې خبر کړے وهٔ. د راست او درست صاف خواب ئې ورکړ چې زمونږ په دا کارونو څهٔ غرض کهٔ د شیخ په اولاد چا زور زیاتے کړے وي د دوي شکرانه یا پوله پټے سیری تړي چا نیولي وي یا ئې په ناحق دوي ته ازار اضرار رسولے وي البته شیخ عالمو وته مناسب وو چې د دوي دپاره فلانه وته څو کسه عالمان شیخان په طریق د ننواتي ورغلے وے امید قوي وهٔ چې ننواتي به ئې منلې وه باري دوي خپله طریقه د پلار نیکهٔ میراث پریښي نور نور فکرونه خیالونه د دنیا هوا هوس د سرداری د حکومت په سر کښې لري خود عیان دي. پرون په سرائ کښېناست وو څهٔ چارې ئې کړے. دوچند سه چند راهداري په خریدونو کښې په توررډمي د کوهیو قلنگونه ئې واخستل زمونږ په دا هسې کارونو کښې دخل کول څهٔ مناسب او مونږ ته ئې هم خط محضر په طریق د علماؤ د اشنغر راستوهٔ چې هر څوک شیخ عالم وغیره چې په تاسې درخي صرفه پرې نهٔ بویه مونږ هم ظاهر باطن درسره ملهٔ یو قاضي محمد محتشم مې هم د کمالزیو علماؤ ته واستوهٔ چې د اول ورسره جرگه معرکه وکاندي چې کهٔ احیاناً د علماؤ مذکور پېښ شي دوي او د اشنغر عالمان واړه په اتفاق گفتگوئ ورسره وکاندي چې د عالم خواب هم په عالم کیږي. د کمالزیو علماؤ هم محضر په طریق د اشنغر د علماؤ ورستوهٔ. مونږ هم څهٔ سوارهٔ پیاده د کمالزیو راوبلل خپل سامان مو ورته جوړ کړ نور علماؤ د پېښاور[۳۹۲] چې باندو کښې جمع شوي وو پیش رفت د مطلب ئې ونهٔ لید. وپوهیدل چې دا ښه خبره نهٔ ده خط ئې وکیښ دا حافظ مبارک نام په لاس ئې راستوهٔ چې شیخ سرفراز گل دعویٰ شرعي لري په اهل علمو مستغاثي دے فیصله د معاملې مطابق د شریعت کړئ. بویه هر څهٔ چې ویوني وو واړه ئې مفصل زباني حافظ مبارک ته ووئیل خلاصه دا ده چې د دوي په بخره لکه شکرانه، شیریني پوله پټے زمونږ غرض نشته نهٔ مو پخوا تر دا کړي دي نهٔ مو اوس پکار دي. د هر چا خپله بخره ده هر څوک په خپله حصه نصیب قسمت شاکر او صابر دې وي. زمونږ په بخره ئې رخنه د حسد وکړه دا هومره فساد او تصدیعات ئې د خدائ تعالیٰ خلقو ته ورسول. خپل ځان ئې هم خوار په بلا ئې گرفتار کړ دا خط مې هم په جمع د علماؤ وکیښ ور مې ستاوهٔ. هغه خط دا دے:

کافهٔ اهل علم و اسلام مجمع فضیلت ذوی الاحترام را سلام مسنون اسلام معروض باد کاغذ اعلام بعد از سلام موشح به پیغام رسانیدن چون دیدهٔ انتظار بر سبیل حق گداز بود باعث خوشنودی شد آنکه استغاثه سرفراز قلمی بود فی الواقع مدت است که مسموع میگردید و

در ین باب ہر کہ قلمی نمودہ جوابش بہ عقل خود باصواب ارسال داشتہ تعجب بہ خاطر میرسد کہ چہ گونہ مسموع آن فضائل دستگاہان مگر دیدہ واز نظر ایشان نہ گزرانیدہ بہر کیف فقیر تابع شرع ومتابع قول وفعل علماء است قسمے کہ بہ خاطر حق گزار ایشان قرار یافتہ باشد فقیر را متابعت لازم فقیر راہم باسرفراز گل دعوئ شرعی است بہتر آن مینماید کہ آن مرد رفتہ بعدالت عالیہ شرعی حضرت قاضی جیور جوع نماید تاہر دو جانب مدعی ومدعاعلیہ اظہار کردہ شود حقے کہ از جانب فقیر بہ او ثابت شود جواب نماید واگر از و بر فقیر ثابت شد جواب خواہد نمود واگر ازین دو فریق بعد از اثبات کسے گردن تابی نماید استمد اداو بر جمیع اہل اسلام خصوصا علمائے ذوی الاکرام لازم باشد عدم عرض احوال حمل بر غرور نتوان نمود بلکہ امید از علمائے کبار حق گزار چنین بود کہ نا پرسیدہ بہ حرف مدعی یک طرف مجتمع نہ خواہند گردید۔ والسلام۔

علماء چې په حقیقت حال واقف شول سرفراز ګل ته ئې ووئیل باره دے حق سره مشرق مغرب. نور نور بیان به ئې کاوهٔ. علماؤ ته ما في الضمیر تخمیر د دهٔ معلوم شهٔ هر چې ئې وئیل هغه نهٔ علماؤ پسندل او نهٔ ئې له لاسه کیدل. او چې علماؤ وئیل هغه ته د دهٔ قابو نهٔ وهٔ. علماؤ هم په یوهٔ شرم نیولے وهٔ لږ ډیر عذر ئې غوښت. نور سره تفرقه شول. هر څوک کور ته لاړل باره د سرفراز ګل تناکه ونهٔ چاوده وبښ ئې سارهٔ نهٔ شول. هنوز به پے فساد اندیشي سرګرم وهٔ خط پیغام به ئې ملک سپین ډیري ته د مهمندو او یو نیم شیخ عالم ته استوهٔ. له یوسفزیو نه محمد غیاث محضر طریق وکښل رضا بې رضا ئې د بعضو سپین ډیریو ملکانو د امازیو سیصده مهرونه ئې پرې ووهل نامدار هم خط محب اللہ ارباب ته وکیښ. محضر خط ئې سره ورستول چې له دغه طرفه تاسې د دې طرفه مونږ په اتفاق به سره[۳۹۳] طرفین لښکر کښې وکړو ارباب بجنس دواړه و ما ته راستول اخر الامر محمد غیاث هم د یوسفزیو نه پېښور ته راغے تلاش تردد ئې د لښکر کښې آغاز کړ د پېښاور په خلقو کور په کور وګرځیدل محب الله ته هم ورغلل ارباب په ظاهر هیڅ مخه ور نهٔ کړه اخوند قاسم وغیره اکثر علماء چې حق باطل ورته ښکاره شوي وو عذر ئې ورته وکړ. طاؤسے زاخیل چې څهٔ لږ ډیر رشوت بلهٔ ئې هم ورته قبوله کړې وه د لښکر اقرار ئې ورسره وکړ. د افریدیو سره ئې هم خط خواب وکړ ملک ایمل هم ورسره لکه کوته سګ چې په شرم ننګ هیڅ نهٔ وهٔ بې شرم وو په سلسله جنباني د حرف صلح مصالح ورسره پاڅیدل باندو ته راغلل خرڅ ئې آغاز کړ. صوبه دار نهٔ وهٔ ملک بې خاونده خالي میدان وهٔ. هر چا چې څهٔ کړهٔ د پوښتني سړے څوک نهٔ وهٔ د ارباب محب الله خط پیغام به ماته راتهٔ دا به ئې کښل چې اول به هیڅوک نهٔ درخي او کهٔ برتقدیرے څهٔ لږ ډیر جمع هم څوک وکاندې ملک سپین ډیرے په څلورو کسو یاد سړے به هیڅوک نهٔ وي. لونډ غل قمار باز کهٔ څوک درشي هیڅ صرفه پرې نهٔ بویه. ملک محمد جان به هم ارباب ته وئیل چې دا شر فساد ښهٔ نهٔ دے د مهمندو خلق منع کړه بارې د ارباب هم بو هغسې حکم جاري نهٔ وهٔ. دویم هغه هسې تهیدل بجد هم نهٔ وهٔ. په ظاهر به ئې یو ګونه خلق

منع کاوهٔ باطن ورته دواړه مساوي برابر. الغرض اووهٔ اتهٔ زره لښکر د ناشیخانو په باند
کښې جمع شهٔ. افریدي خلق تمام زاخیل په بدراهی د طاؤسي نور غل قمار باز اوباش لوند
پدر مادر آزاد د مهمندو خلیلو د باندو هر څوک سره جمع شول. ملا جمال، ملا ولي و غیر
یوه جماعه چې سابق مذکور شول دا هم ورسره ذکر مذکور به ئې هم دغه کاوهٔ چې سرفراز
ګل خپل حق غواړي. د دهٔ سره دې شریعت وکاندې. له باندو نه ئې سره خط د جمع علما
چې ورسره وو په لاس د ملا جانباز چې مشهور په خان د طالبانو وهٔ راستوهٔ مشتمل په دا چې
سرفراز ګل په فرقهٔ اهل علم مستغاثي دے حق غواړي. بویه چې معامله موافق شریعت فیصل
شي. ملا جانباز د وړاندې او دغه اووهٔ اتهٔ زره لښکر چې ورسره جمع شوے وهٔ په هغه س
ورپسې نوښهر ته راغے. د دهٔ د ورتلو خواب ته ئې هم ونهٔ کتل. ملا جانباز وته هم حقیقت ا
اوله تر اخره ووئیلے شهٔ او ورته مې ووئیل چې له حق نه ګردن تابې نهٔ کوم تابع د شرع او
علماؤ یم. ځائے د انفصال معاملات پېښاور دے چې ښهر بادشاهي نائب صوبه دار قاضي مفت
علمائے عظام پکښې اوریدهٔ شي. زهٔ به هم وکیل دراستوم تاسو هم څوکسه علماء دیندا
ورسره کښینئ تحقیق د روایت وکانئ. مطابق د روایت به معامله سره فیصله شي. او کهٔ دل
شریعت کوي هم دیرش څلویښت کسه علماء تر صلو کسو پورې اختیار ورکړئ. هر څ
علماء چې راځي دا ئې هم خپل کور دے هیڅ مضائقه نشته را دې شي. سرفراز ګل دې ه
ورسره راولي. فضلا د [۳۹۴] اشنغر د یوسفزي به زهٔ راوبولم. سره دې کښیني کهٔ څهٔ ح
ئې راباندې ظاهر شهٔ غاړه بسته به ورکړم کهٔ مې پرې واوښت را دې کا بیا دې له تا هسې اه
فضل سره درومي. او کهٔ دا واړه بهانه طلبي ده عذر غواړې مطلوب مو یوه صلح صلاح
چې د سرفراز ګل نه بدي وشوه ګزشته دې عفوه شي آئنده به نهٔ کاندې هم بهتر اول تاس
راشئ چې حال حقیقت سره ووایو نیک و بد معلوم شي دې تاسې د علماؤ په صلاح هر چ
سره مقرره شي له هغه نه هر چا چې تجاوز وکړ تیر شهٔ هغه په واړه سره ملامت زهٔ شکرا
خور نهٔ یم هاله چې شکراني دوي خوړے دې ما غرض پرې نهٔ وهٔ اوس چې له دوي پاتو شو
هم ئې زهٔ نهٔ خورم نور ئې اخلي. او دا خط مې هم د ملا جانباز په لاس ورستوهٔ. هغه خط
دے:

فضیلت پناه وکمالات دستگاه اخوند محمد جمال وملا ولی جیو وجمیع حاضران مجلس را اسلام که مسنون اسلام است برسد. بعد از س
اعلام معه پیغام اخوند محمد جانباز رسانید مشتمل بر اینکه شیخان استغاثهٔ حق نموده اند و مارا همراه به بانډه ها آورده اند باید که شما خود یا وکیل
بفرستید. تا معامله فیصله کرده شود. مهربانان مدت است که نام حق شیخان میگیرند اما معامله را فیصله نمی کنند از حق دوری نمایند اگر حقے
داشته باشد فقیر از حق گردن تابی ندارد تابع شرع است در شهر بادشاهی نزد حضرت قاضی جیو رجوع شوند فقیر نیز وکیل خود را بے عذ

خدمت می رساند اگر چیزے ازآ نہا بر ذمہ فقیر ثابت شد جواب آن خواہد نمود واگر بآ نہا ثابت شد جواب خواہند کرد۔ این کار بہ لشکر کشی محتاج نیست کہ بے اثبات شرعی بگفتہ مدعی لشکر کشی باید نمود و عالم را بکشتن و تاراج کردن باید سپرد از طریق اسلام نیست۔ دیگر آن مہربانان بہتری دانند باقی حقیقت راز بانی جانباز گزارش خواہد نمود امید کہ قدم مبارک آن بزرگان درمیان است بخیریت مسلمانان خواہند کوشید۔ والسلام۔

اول ئې جانباز له باندې نه ورانديې راستوۀ دوي له لښكره سره ورپسې نوښهر ته راغلي وو. ملا جانباز نوښهر ته ورغے خط ئې ووړ او چې څۀ ورته وئيلي شوي وو ذكر مذكور ئې آغاز كړ چې حقيقت ظاهر كا بارې دے ته چا كتل د دۀ وئيل چا اوريدل هغه خط چا ونۀ لوست. نور هوا هوس ئې په سر كښې وۀ. مونږ ته هم خط كتابت د يوۀ نيم يار اشنا مشتمل په حقيقت راتۀ او خود هم متجسس اوخبر گيران وو باري څۀ جماعه د علماؤ هم ورسره وه هومره وسواس مې نۀ كيدۀ. د لښكر جمعيت سامان جوړښت مې هم له زړۀ نه كاوۀ. وئيل مې چې جماعۀ اهل علم ورسره دي معامله به تر فساده نۀ رسوي. باري زمانه اخر هسې خلق چې نظر ئې په خيريت د خلق الله د مسلمانانو وي په دا وخت كمياب. كمالزيو ته مې چې مل ګُند وۀ خواب راستولے وۀ چې د نوښهر د راتلو نه ئې خبر شوم زړۀ مې بد شۀ فكرمند شوم چې هغه خواب څۀ او دا راتلۀ څۀ بيا په خاطر راغله چې د نوښهر نه خواب سوال وكاندې نۀ به راتيريږي. د لښكر سامان هيڅ نۀ وۀ.[۳۹۵] شوے. خپل جمعيت او د سرائ او د مصري باندې حسن خيل دوه سوه تير صو كسه بولاق هم راغلي وو. همګي لښكر شپږ اوۀ شلې سوارۀ او څونصو نهايت پونصو كسه پياده دا خلق حاضر وو چې د دوي لښكر نوښهر ته راغے برخوردار محمد علي خان تورے او ملا جان محمد د فريد كمالزي خوے دواړه راستول. قراره شومه راپورې شول. راغلل وې وئيل چې لښكر نوښهر ته راغے اوس څۀ مصلحت خان صاحب فرمائي. ورته مې ووئيل چې كار دې ما تر مصلحته تير شۀ. تاسې هم يوه جماعه قوم قبيله ياستئ اختيار لرئ جنګ به تاسې كانې. خانونه دي تاسو دي كۀ كناره كيږئ زۀ مو نۀ منع كوم او كۀ جنګ كوئ هم بهتر. كۀ ومرئ مرګ د شهادت سعادت دے ما اختيار دركړے هر چې پوهيږئ صلاح ګڼئ هغه كوئ. دوي دواړو مې لاسونه په قدمونو كيښول بخښنه ئې وغوښته چې نمک مو خوړلے دے كۀ ومرو تصدق كۀ پاتو شو بيا به خدمت كوؤ. رخصت مې كړۀ چې ما بخښلي ياست حق تعالیٰ مو حافظ ناصر اوسه. په هغه سحر عظيم باران وشۀ سبا ملا جانباز ته انتظار كښې چې اوس به راشي وګورو چې څۀ خواب به راوړي. محمد علي خان هم سبا د وخته راووت. د ګودر دپاره په ميدان كښې ئې د سورو پياده ؤ محله واخسته چې راوجاروتل د ګودر تر ونو لاندې هم ملا تړلي اسونه زين كوز شول چې

غـرمه به دلته تر ونو لاندې تيره کړو. درې څلور سوارهٔ ئې د څوکی دپاره مقرر کړې وو چ
پـه ډهيری د کټي خيلو ناست خبر ګيران اوسي. لښکر د غوريه خيلو يو په سبب د غرور چ
زمونږ مخې وته څوک نهٔ راځي نهٔ زمونږ بد ختيک اخستے شي. دويم ناشيخانو به ورته وئ
چې سرائ خالي دے هيڅوک نشته معطل ناستے څهٔ فائده مسافر راهرو دوې د بادشاهي چ
بـه ورتـهٔ هـغـو تـه بـه ئـې وئيـل چې د لښکر خلق هر څوک چې مو وپوښتي ورته وايئ چې
سـرائ کښې هيڅوک نشته. يو محمد علي خان د څو سورو سره راپورې وهٔ هغه هم زمونږ
وړانـدې پـورې ووت بـنده کـس راپورې نشته له نوښهره راروان شهٔ. نمازپېشين چې آبدس
مې وکړ. راووتـم نـمـونځ مې وګزارهٔ پوښتنه مې وکړه چې څهٔ خبر هم راغلے دے چې په د
ميـان کښـې پـورې پـه ګودر نغاره وشوه. سوارهٔ پلې سره وخوشحال پوښتنه مې وکړه چې
څهٔ نغاره ده. ګمان مې دا وهٔ چې شايد سورو چې غرمه د ونو لاندې تيره کړې وه اوس به کو
ته درومي. چا راته ووې چې څلور سوارهٔ اوس د پاسه په بادشاهي لارې په پويه راغلهٔ د هغو
راتـلـهٔ نغاره وشوه. بل يوڅوک ولاړ وهٔ هغهٔ ووې چې لښکر راغے دا دې تورې بريښ کاند
رادرومي کـهٔ مې کتل تور بريښ کيدهٔ سور سپين نښان يو خلقات سره تر ډهيری راتير وو
اسماعيل خيلو په برابر راوخوځيدل راتلهٔ. زړهٔ مې بد شهٔ چې بده چار وشوه. محمد علي خا
دوې هـم له ونو نه سوارهٔ شول ورروتل. د محمد علي خان و محمد حسن خان و اسد الله خا
و مـحـمـد اشـرف دوې کـوروئـه واړه په سرائ وو. زهٔ خود د څو خدمتګارو سره راپورې
مـصـرې کـوټ کښـې وم ليـکـن از راه مـصلحت اسد الله خان محمد اشرف سره مې راپور
ايستلے وهٔ وسواس مې وشهٔ چې يوسفزي زورور غاور اولس دے د نامدار د ناشيخانو کورو
هـم پـکښـې دي. دويـم هـفت پشته قديمي غليم دي. مبادا دواړه لوريه ئې اتفاق کړے وي
مصرې باندې حسن خيل مې [۳۹٦] هم په کوټ کښې راڅخه ستانهٔ کړې وو اګر چې نامد
په امازي په سيصده تردد د لښکر وکړ اما د هغو د لاسه هيڅ ونهٔ شول. په عين دا هسې وخ
کښـې ترو د جلال خان د څوارلسو سورو سره راغے کور ته راننوت ورته مې ووې چې پور
دا صحبت سره وينے دلته ما وته څهٔ لره راغے. معطل مهٔ کوه پورې ووخه تياره بيړی ولاړه
هـم هسـې دسـت بـدسـت پـورې شـه محبت رخر سادهم د چنون خوږے دا هم راغلل راته
ووئيـل چـې پـورې طرفين لښکر سره ولګيدهٔ راپورې خير خيريت دے دا خلق خان صاحب
څـهٔ دپـاره پـه کـوټ کښـې سـاتلي دي له ديه لوريه وسواس هيڅ نشته خاطر دې جمع لري
راپـورې خـلـق دې هـم پورې باسي. د باندې حسن خيلو ته مې حکم وکړ لاس په لاس پور
شول. هغه لښکر د مهمندو تر سوريا خيلو راتير شهٔ. دلته نغاره وشوه چې د دوې د نقارې او

ئـې واوريـد نبنـانـونـه ئـې د دې خـلقو وليدل نور ئې ملا جمال ملا ولي موسىٰ د شيخ ابراهيم نمسے وغيره يوه ډله د علماؤ ئې په طريق د جرګه د وړاندې روانه کړه. لښکر ورپسې راغے. د کوټليو تر خوړه پورې د غرهٔ لورې ته ئې نبنانونه ودرول تورو بريښ کاوهٔ ودريدهٔ. جرګه د مـلايانـو راوړانـدې شـوه راغله د فتح چند تر کوهي نمر پريواتهٔ لور ته سره ودريده. ورته ئې وونيـل هـان اخـونده وايه څهٔ جرګه مو راوړې ده. ورته ئې وونيل جرګه خو دا ده تاسې پورې شـئ. چـې مـونـږ پـه سـرائ ديـره شو سبا به خبرې کوؤ. ديو ورته وونيل چې موسم د پشکال سيـنـد مـوج وهـلـے خـتـلـے پـه دا دوه بيړى د نبنانونو تر سوريو لاندې مونږه پورې کيږو که زاهـوزاد مـال اسبـاب پـورې بـاسـو دا خبره هاله وه کهٔ لښکر په نوښهر وے تاسو راغلي وے. ورتـه ئـې ووې چـې دې تـاسـو کورونه هلکان چرته دي. دوی ورته ووې چې زمونږ د کورونو خبـر اوس اخـلـئ چې لښکر مو راوست وهٔ دې دراوهٔ هاله دې دا فکر نهٔ وهٔ اوس دا خبرې څهٔ فـائـده مـطـلـب د ننداري دې دے هم دے ته وروستو شه تکيه په خدائ تعالىٰ اوس څخو صبر کـړه خـود بـه وويـنـے ورته ئې غوټ په متهه وونيل چې ورتير شي ګورو مو به ترو د جلال خان هـم پـه عيـن ګـفـتـګـو کبنې ورغے يوهٔ نيم څهٔ خو سسته خبره کوله اکثر په دا متفق شول چې اوس بـې جـنـګـه بـل فکر نشته بل مصلحت خطا دے خصوصاً تر وهم په جد شهٔ نور وررروان شول. هغه لښکر د کوټليو تر خوړه پورې تنبې ترلے ولاړ وهٔ چې دا لښکر ورروخوشيد نور ئې د خوړ غـاړه واخسته مخ په پورته د غرهٔ لور ته روان شول. دے لښکر هم څنګ وواهۀ هم له ديـه نـه مـخ پـه پـورتـه وررروان شـهٔ چې د چندو تر خوړه ورپورې شول. لښکر سره په قابو د کوټليو خوړ تر ميان وهٔ پورې هغه راپورې دا د ټوپکو ګزارونه سره وشول. اما چې هغه مخ په پورته روان وو تلهٔ د خوړ غاړه ئې نيولے وه برابر په خوړ ورپورې کيدهٔ بيا پاس ورخاتهٔ دشوار وو نـور دوي هـم د خـوړ غـاړه واخستـه سـررو غورزولے په دا قصد چې ترې تير شي تر خوړ ورپـورې شـي. د پـاسـه لوريه پرې راشي زهٔ هم راپورې ورته ناست ننداره مې کوله. دعا زارې مې پـه درګـاه د مـجـيـب الـدعـوات کوله چې يا رب العالمين تر هر چا تهٔ زوررور ئې د[۳۹۷] هيـچـا مـې څـهٔ نهٔ دي راوړې د هيچا سره مې بد نهٔ دي کړي محض د ناشيخانو بدبختي د نور اولـس کبـر غـرور دې مـا لاس هيـڅ نـهٔ رسـي دې تا خلق مې هم په تا سپارلے دے. اخر الامر سـوارهٔ زمـونـږ وړانـدې حسـن خيـل وغيـره تـنبــه ورپسـې د بولاق د خلقو تنبـه راهسې سره وخـوشيـدل د ټوپکو جنګ پورې راپورې کيدهٔ. هرګاه چې سوارهٔ د مکوړيو تر ډاګه راکوز تر دوي تيره زني شول نور د مهمندو د لښکر وړاندې د تلو قابو غلط شو نور ئې دغه نبنانونه ووهل. خائے په خائے کندې ختهونه ئې نيول. د ټوپکو جنګ طرفين سره ګرم شهٔ. سورو

د پاسه حسن خیل وغیره تنبه رو برو د بولاقو تنبې د کنبیه مټ ئې پرې وکړ. په کرم د ایزد کار ساز شکست ئې بیاموند مات شۀ. دغه خائے کندې کودرې د اسونو د تګ و دؤ کشاده میدان نۀ وۀ بهر حال سورو پیاده ؤ لاس په قتل کشتن کښیښی. نمر پریوت چې دوې شکست موندلے وۀ. د پیر زین الدین تر کلي د پاسه ورپسې لاړۀ. دغه خائے تیارۀ نمازښام شۀ بنۀ ئې سره خلاص کړل خونصو پونصو کسه ومړل. شل څلویښت کسه زغرپوش چې په پیاده توب ئې زغرې اغوستې وے اکثر پاتو شول ومړل. زیات پکښې زاخیل وو. ډیر خو د طاؤسي عزیزان ورونه خدمتګاران ومړل. افریدي هم پنځوس شپیتۀ کسه ومړل نور د توکه توکه تپه په تپه خلیل داؤدزي د باندو وغیره هیڅ نۀ وۀ چې لس پینځلس کسه ئې مړۀ نۀ وو. نغارې نښانونه قرنا ئې پاتو شول په لاس راغلل. د ټوپکو تورو وغیره وسله زغرې نوره اولجه هیڅ حساب شمار نۀ وۀ څۀ د لښکر د خلقو په لاس راغلۀ. نور ناشیخان کلهم واړه چې جنګ سره ګرم شۀ پخوا تر شکست په څنګ شوې په سر د ماتې په تیښته لاړل خلاص شول. یو شاهد الدین د قطب الدین ورور کښیوت ومړ. له دیه لوریه یو ولي دلازاک ساکن د میان عیسیٰ چې سور وۀ په غشي وویشت شۀ ومړ. نور په فضل د الٰهي سالم غانم راوجاروانۀ راغلۀ شکر لا تعداد و لا تحصیٰ په درګاه د واهب العطایا چې کۀ دا فتح و نصرت فضل الٰهي نۀ وے شوے نور خټک له مینځه ورک وۀ پورې راپورې هیڅوک نۀ پاتو کیدۀ. بیخ بنیاد به ئې ختلے وۀ. اکثر مرد و زن بچه اسیر مال حال تالا تاخت تاراج هسې به ورک وو چې هرګز نوم نښان به ئې پاتو نۀ وۀ. الحمد لله والمنة لله چې دا هسې عظیمه فتحه ئې په دا هسې سهولت راکړه. دشمن اګر قوي است نګهبان قوي تر است الحق کبر غرور ناحقي بده ده اخر ئې نتیجه د دنیا او د دین خواري او رسوائي ده. دا واقعه په ورځ د دوشنبې دوه ویشتم د شوال سنه زر صل شپږ دیرش په وقوع راغله.

فصل: په وخت(۱) د نزع هر چې فرزندان ورته ټول وو هغو ته ئې دا وصیت وکړ چې کۀ مو بهرام وړاندې وروستو په لاس کښیوځې مړ ئې کړئ نیمائي ئې دې ما سر ته نیمائي ئې دې ما پښو ته وسیزئ. هاله به دې ما روح له تاسو خوشنود شي. دا تاریخ ئې د فوت خان جنت نښان وئیلے دے. تاریخ:

رفت آن [۳۹۸] میر روه شاه ختک — که خوبي امیر افغان
ماه تاریخ فوت جستم — خردم زین قبل سخن ران
روز ربیع دوم — بست هشتم اوان اذان بود
سال هجران اګر خواهی — "موطن خیر، مجد و احسان

دا تاریخ د خال علیین مکان د فوت گوهر خان ونیلے دے تاریخ:

خان خانان و قدوهٔ افغان	آن حکیمے سر خردمندان
چون بہ ہفتاد و ہشت سال شدہ	چو الف بود ہم چو دال شدہ
روز آدینہ بود چون ز جہان	رفت و ماندیم ما بہ آہ و فغان
غرهٔ ماہ مہر بود آن موت	کہ بہ لب می نہاد مہر سکوت
بست و ہشتم ربیع آخر بود	کہ امین جان پاک او بر بود
چون ز تاریخ فوت خان خرم	شد'' زما رفت زین جہان پدرم''

په سن زر انهٔ نوي (۲) زهٔ ئـې پښـاور ته امیر خان ته رخصت کړم کورونه مې هم له جیناکوړه پښـاور تـه راوسـتـل. د ازاد خان نیابهٔ کره مې مکان ونیو سکندر خان او عبدالرحمن (۳) پښدو کلي ته کډو سره راغلل. نامدار خان او عبدالله خان وغیره کډې دا د هغو شیطانانو په بد راهی د یوسـفـزیـو پـه پـنـج ډهیـر راغلل. هر چا منع کول اما د نامدار خان خو خپله نیانه وه د هغو شیطـانـانـو خـو مـحـض چې د درویـزې روتـې ئې خوړلے وه درویزې ته ولاړل. زهٔ په سن د هـجـرت چې زر صـل وهٔ پـه لیدل د امیر خان کابل ته لاړم. پس د ملازمته ئې تجویز دې ما د مـنـصـب وکـړ اس و سـروپـایٔ ئې ماته راکړ. گوهر خان او عجب خان اوغیره چې راسره وو سـروپایونه ئې ور کړهٔ. نور ئې پښاور ته رخصت کړهٔ. اخر الامر بهرام نحوست انجام بدخویه وهٔ دا د اولـس عـالم واړه خنې ازار وهٔ. همیشه به دې اولس زما د بللو تقاضا کوله چې کهٔ دے راشـي بهـرام به پاخوږ. دې ما نظر په دا وهٔ چې کهٔ زهٔ بهرام دا رنگ پاخوم امیر خان به آزرده شـي. د دهٔ دسـت گـرفته وهٔ د دهٔ رضامندي حاصله کړم دا آش بیا په کاسه کښې دے. اما هغه شیـطانان بدبخت چې و اولس ته ئې په دروغه ووې چې د فلانه مرضي ده دے به هم راشي. زهٔ پـه هـغو شپو ورځو کښې د ناصر خان سره په تیراه وم هیڅ خبر نهٔ وم. په تیراه خبر راورسیدهٔ چې هـورې دا رنگ هـنـگـامـه وشـوه. په سن زر صل دوه د ناصر خانه مې رخصت واخست پښـاور تـه راروان شـوم. چې په لوړه میله راغلم خبر راورسید چې دغه شیطانان ورغلي وو د ډهـیـرې کـلـي تـه پـه تـمامه بد تدبیرې او ناعقلې بهرام له سرایه وروت چې زهٔ ورسره نهٔ وم اولـس مـې هـم دوه خـایـه شـهٔ. خـوک د بهرام سره خوک د دوي سره جنگ ئې وکړ. شل دیرش کسه ختـک ومړل. عبث یوسفزیو هم ورایستلے وهٔ په لبنکر د پیر کلي ځخه تر سینده پـورې ولاړ وو خـتـکـو سـره وژلـل دوي نـنـداري کـړے بیـا پستنه کورونو ته وجاروتل هغه بدبختان مې راوبلل ډیر نصیحت مې ورته وکړ چې امیر خان په مونږ مهربان دے. بادشاه ته ئې زمونږ سفارش کښلے دے عنقریب دے چې زمونږ کار له خپله لاسه وکا. دا عالم سره

ملیږي مهٔ ګرزوئ. امیر خان هم په مونږ بدمظنه کیږي. بیا ورغلل یو مکر فریب ئې په یوسفزي کښې[۳۹۹] کړے وهٔ. څو ګرسنه ئې په طمع د مال ورسره جمع کړهٔ هغه یو ورور ئې کم بخت دي ما سره وهٔ. زهٔ په دوه توئ وم ناصر خان سره په ښکار هغه کشر ورور چې دي ما سره وهٔ مشر ته ئې په دروغه وکښل چې د فلانه هم په دا مرضي ده. هغه د هغه مغلو سره راغے په اورمړو کښې کښیناست. بهرام چې خبر شهٔ فوځ ئې پرې وزغلاوهٔ تار په تار ئې کړهٔ ډیر ئې ترې مړهٔ کړهٔ. حیران پاتو شوم. چې دا کم بختان راسره ملهٔ مهٔ شه دا څهٔ کم بختي ده چې دوي ئې کا. هغه بهرام چې مونږ تر ښځې کمتر ګاڼهٔ مونږ وهلے شړلے دوي ئې نقش د توري راته کښیناوهٔ او امیر خان بدمظنه شهٔ چې د دهٔ په اشارت سره کیږي او ژبه د غلیمانو اوږده شوه ورته به ئې وئیل چې خانجهان بهادر (۱) امرا د لاهور صوبه دار شهٔ د دوي کور فدائي خاني دا فساد ئې کاوهٔ. چې امیر خان بدنام شي هغه صوبه دار شي. د دیو کم بختو په شامت هغه د پېښاور استوګه راباندي مشکله شوه د افریدي د ورکزي تمامه جرګه مې راسره کړه ورغلم امیر خان مې په جلال آباد ولید ډیره ګیله ئې راته وکړه چې بادشاه ته مې دي تا سفارش کښلے وهٔ. شب و روز دي تا په کار پسې یم باري هر وخت مصلحت څنې وخت بادشاهان په خپل کار پوري درمانده وي د لاسه ئې نهٔ شي. انشاء الله تعالیٰ خاطر جمع لره دي تا کار به زهٔ د خپله لاسه وکړم. راته ئې ووئیل چې کابل ته راسره مهٔ درومه ماته د غلجیو مهم درپیښ دے هر چې سوارهٔ پلي درسره دي نوکران به ئې کړم دا خدمت د غلجیو د مهم راسره وکړه په خاطر راغلل چې دي ما د پښتنو په مهم څهٔ کار. په سن زر صل دري په طریق د سیر د هوا و تیراه ته لاړم څنې رخصت شوم پېښاور ته راغلم. په دا کار کښې په پېښاور کښې مې دري کاله تیر شول. امیر خان چې پورته لاړ د غلجیو مهم ئې درپیش کړ. تمام یوسفزي ئې ته بندي نوکران کړل. سرخاب، بهي، جګدلي دا تاني ئې پرې وسپارلے. غلجے خائے په خائے په غرونو کښې سنګر شهٔ. دري څلور جنګونه وشول. په وارو جنګونو غلجي برے وکړو. ډیر عالم ئې مات کړ. ښهٔ ښهٔ مغل مړهٔ شول. بعضي یوسفزي چې زر ئې د مغل په لاس راغلل له هغه نه کور ته راوتښل. بعضي پاتو شول اخر الامر غلجے له هره لوریه په غله په رسد تنګ شهٔ. یو لښکري یوازي په قزاقي جنګ د یو غلام سره د کپوري یوسفزي د لاسه ومړ. نور امیر خان سري تر میان کړهٔ ملکان ئې د غلجي وبلل دلاسه ئې کړهٔ. بادشاه ته ئې د لښکري په سر مجرائ وکړه. بادشاه له قاسم خان امرا نه پوښتنه وکړه چې امیر خان کښلي دي دا څهٔ رنګ سرے وهٔ. قاسم خان په عرض ورسول چې دا د هغه سري خوے وهٔ چې ملک تاتار خان نومیدهٔ ما ئې سر په یوه خربوزه پریکړے وهٔ. دا مقدمه دا رنګ وه چې

قاسم خان ابتداً چې امير خان د کابل صوبې ته راغلے وۀ دا قاسم خان ورسره وۀ د توپخانې داروغه وۀ. د دوآبې تانه دار وۀ ملک تتر ئې بللے وۀ مهماني ئې ورته کړې وه. د امير خان په مصلحت خربوزه ئې ورته کېښوه ملک تتر خوړه دپاسه ئې په توره ورواهۀ. سر ئې پريکړ هغه سر ئې واخست له دوآبې وتښ کابل لره لاړ. [۴۰۰] چې په کابل داخل شۀ نور امير خان قتل عام د کابل په ښهر کښې په پښتنو وکړ. ډير پښتانۀ بعضې د هندوستان چې سود سودا ته راغلي وو ومړل. نور بادشاه هغه اوولس لکه روپۍ چې د غلجيو په مهم خرڅ شوے وے په امير خان مطالبه کړے. امير خان هم هغه روپۍ د کابل په صوبه په هر چا چې ئې لاس رسيدۀ مطالبه کړے ځنې ئې واخستے. نور چې امير خان جلال آباد لره راغے رالره ئې وکښل چې د بادشاه خواب هم ما لره راغے. اوس زۀ دې تا کار کوم اما بادشاه ته مې کښلي دي چې د سوداګرو مال چې په بادشاهي لار کښې په دا هرج مرج کښې تلف شوے دے دا مې له فلانه کښل واخستل چې هرګاه دے په خپل وطن په خپل ملک ورشي منصب پروانه ورته د جاګير له حضوره راشي له اولس به دا تاوان واخلي و سوداګرو ته به ئې ورکا. بادشاه قبوله کړه. ماته ئې کښل په خپل مهر راکړۀ چې مطالب دې وشي خاطر دې جمع شي. دا تاوان راکړه. ما هم چې څوک راسره وو معرکه کړل وارو خواب وکړ چې تاوان ئې ورکړے بويه. نور د نواب په حکم لنګر کوټ لره الله داد خان خويشکي ته راغلم په دا سبب چې دې ما او د الله داد خان آزردګي وه د بهرام د جنبه دارۍ په سبب. امير خان هوښيار وۀ چې په دا سبب د دۀ د الله داد خان سره صلح وشي او د الله داد خان جنبه داري له بهرامه وشليږي. دوه مياشتې په لنګر کوټ تيرې شوے. الله داد خان ډيره روبه بازي د بهرام دپاره وکړه اما امير خان دې ما په کار په جد وۀ. او بل ناصر خان چې په هغه اوان نهۀ صدي منصب ئې وۀ ډيره ښه ملګيري وکړه. په تمام اخلاص د پښاوره په نوښهر راغے وائ ړول. د الله داد خان ضرور شۀ. څوے يو مشت ګوشت(۱) ناپکار د مندڼو د سورو سره ئې راسره کړ. خوراک ئې د سورو په ما مقرر کړ. هرچند مې ووې چې دا سوارۀ د مندڼو دې ما پکار نۀ دي عبث خرڅ شي. اما هغه بدنهاد قادر راپسې شۀ چې دا ښۀ دي بل به د الله داد خان خاطر ښۀ شي. په ډير ضرور دوه سوه سوارۀ مقرر شول. هرچند مې ورته ووې چې اے ناکسانو دا دوه سوه سوارۀ مقرر شوَل تمام مندڼ به راروان شي څوک به دربانان په ميره کښې ودروي چې به ئې منع کوي او دے به مې هيڅ پکار را نۀ شي. غليمان دي خوراک ته درومي زړۀ را ښۀ کوي اما دے خو دښمن وۀ تر هغو دپاسه دنيا دې ما ئې خرڅوله مخ ئې خپل اما زۀ ځني غافل. بيت:

چو بخشت نگون نيست در کاف و کن چو دشمن بگويد بکن آن مکن

زۀ هـم له نوښهره راغلم په غره د صفر سن زر صل څلور په سرای داخل شوم. په مجرد دي م
د نـوښهـر پـه داخـلیـدۀ تـمام اولس راغـے زۀ ئې ولیدم. بهرام چې په هغه وخت استو ګه ئې پا
خیـر آبـاد وه پـخـوا تر دې ما د راتلو خورې نظامپور لره لاړ وۀ. کډه اسباب واړه ئې په ښادي
پـور وۀ. مـا اولـس سره مصلحت وکړ چې تاسو د سونیالې په لارې پیاده عالم ډیره په سونیالې
کـانې. زۀ چې په سرای درشم خپل سوارۀ د منډو سوارۀ دا به وریسې درستوم په بهرام باند
تـاخـت وکـانـئ. دا اولـس پیـاده واړه په سونیالې ورغلۀ زۀ چې سرای لره[۱۰۳] راغلم خپل
سوارۀ مې تیار کړۀ چې په منډو مې سرے وګرځوۀ حیله ئې وکړه. نۀ تلۀ. سبا مې خپل سوار
روان کـړۀ د اولـس د لښکره سره تر ښادي پوره ورغلۀ. بهرام کوروونه اسباب په بیړیو کښې
واچـوۀ. دے جـریـده د پـټیـالـئ په لارې لکی ته ورسید. چې زۀ له لنګر کو ته نوښهر ته راتل
خـالـد خـان مـې کـوهـاټ تـه ملک میریو ته أستولے وۀ. چې عابد خان چې د بهرام د لاسه
څـوتـره دے او صـدر خان د لاچی فوخدار دے دوي هم وبوله د بهرام د بدیو خمارونه لري.
غـوررزیـو تـول ورتـه ونیـسئ چې دربانديې درشي صرفه پرې نۀ بویه. تاخت و تاراج ئې کانو
عـابـد خـان لـه څوترې ورلره راغـے هغه صدر خان بدنهاد د حمزه خورئي د بهرام ډوزې بللې
هـومـره حـمیـت غیـرت پـکښـې نـۀ وۀ چې بهرام څۀ چارې په خان علیین مکان کړي دي
خـصـوص د صـدر خـان په کورونو ئې څۀ بدناموسي کړې وه. د بهرام سره مل شۀ. عابد خ
خـالـد خـان ښـادي پور ته زمونږ لښکر ته راغلۀ. سره یو ځائې شول. سرای ته راغلل. زۀ چ
خیر آباد ته راغلم ناصر خان د الله داد خان ځوي سره بندوبست مې وکړ دوه درې شپې مې
خیـر آباد تیرې کړے. نور سرای لره راغلم. ناصر خان د الله داد خان ځوے مې رخصت کړ
لـه خیـر آبـاده سـرای ته راتلم د شیدو برابر عجب خان چې د خان له فرزندانو وۀ ډیر صاح
طبع وۀ تربیت کرده د خان علیین مکان وۀ رانژدې شۀ راته ئې ووئیل چې د بهرام د اخراج م
یو تاریخ وئیلے دے. راته ئې ووې. تاریخ:

چې ئې پـه پـڅو پسې ګمراه نۀ شوے　　　　"شـکـر وکـاړه د دجال وخـت دے"

اخـر الامـر چې بهـرام پـه یـوټ باندې ځائے ونیو نقد جنس مال ئې هم له سرایه ډیر وړے و
رباعي:

سـفـلـه پـه مثـل لـکـه ډیـران دے　　　　دولـت پـه دۀ بـانـدې لکه باران دے
بـاران چـې نۀ وي بوئ ئې دربل وي　　　　بـاران چې وشي بوئ ترې روان دے

د څوترې ترې لکه مردار خوارۀ مرغونه په طمع د مردارې پرې جمع شول. دۀ بدبخت د خ
له ویرې تر پونصو سورو سنبل عیسيٰ خیل نوکران ونیول. د بنو شیتک وزیر دوړ ورلره پا

امید راتلل خوراک به ئي تري خوړ. هنګامه ئي په خان جوړه کړه. صدر خان ناعاقبت اندیشي د وړاندي کړه. په بنادي پور باندي ئي تاخت وکړ. په هغه اوان قلعه د بنادي پور خان علیین مکان چي سازه کړي وه له اوبو لري وه. وسعت ئي هومره نهٔ وهٔ په دا اوس اوان ئي ما بل ځائے تجویز کړ. سازه مي کړه چي دا قلعه ئي سازه شوي ده غلیم پري برے نهٔ دے کړے. راستوه خوني په بنادي پور ئي اګر چي هغه زمونږ د لښکر کښني نهٔ وه دے ملک وته راغلي وو سرانجام ئي میسر نهٔ وهٔ اما ضرور شهٔ په اخر د محرم په سن زر صل پینځهٔ لښکر کښني مي پسي وکړه. په لاچي ورغلو د ملک میریو په سبب چي ګندیت ورسره وهٔ د بنګښ لښکر هم په مدد راغے راسره مل شهٔ. بهرام په خان په یوټ وهٔ او لښکر ئي کړپې ته راستوهٔ کړپه ئي ونیوه. یو څو سوارهٔ ئي تر کړپې راکوز شول. زمونږ سورو هم څغه وروکړه اما خپل لښکر مي منع کړ چي مونږ نن تازه راغلي یو ستړي یو نن جنګ نهٔ بویه. شپه په لاچي تیره شوه. سبا د لښکره سره پړي وروخوزیدو.[۴۰۲] تاب ئي رانهٔ وړ کړپه ئي پریښوده په یوټ ورغلو. دیره شو د بهرام خوني مو وسوے دوه دري شپي مي هغه ځائے وکړے. تیر صو کسه کم و زیات ثري او شابي خیل او خورم دا مي په مخکښني د لښکر په طریق یرغمل و لاچي ته راکوز کړهٔ. په لاچی کښني هم دري څلور شپي وشوے. مصلحت ئي وشهٔ چي تانه په لاچي کښني پریښنے بویه. او خود سرائ ته تللے بویه کادي او بادي راوبلل شول چي تاسو دواړه د پنځوسو شپیتو سورو سره دلته اوسئ. هغه بدبخت خوردوبرد وتښتي. هغه بل ووي چي ما پریږدئ زهٔ فقیر کیږم بیا په چشمي کښني ننوزم ضرور شهٔ نامدار خان خالد خان مي د پنځوسو شپیتو سورو سره پریښول په طمع د لاچي د سینیو او د بنګښنو په کومک چي په وخت د کار به درته ورسي. څو مدت پس بهرام چي میدان خالي ولید څونصو سوارهٔ ئي د صدر خان کوته اندیش سره کړهٔ په لاچي باندي ئي راستول د بنګښنو کومک هم ونهٔ رسید. سینیو هم تاب رانهٔ وړ کډه ئي وکړه زیر ګودر ته. هیڅ حال جنګ هم ونهٔ شهٔ زمونږ تانه ډوډي ته راغله. هرچند مي هغو دوؤ نامردانو ته ووي چي لښکر درسره واخلئ بیا د لاچي ابادي وکانئ په هیڅ رنګ ئي پښې نهٔ نیوے. لاچار مي نامدار خان ته وکښنل چي تهٔ رادرومه او د سینیو کډه دي په زیر ګودر اوسي لاچی دي اوجاړه پرته وي. په دا میان کښني خان جنت مکان چي په بیجاپور کښني وهٔ د وفات خبر ئي راغے. په سنه د زر صل شپږ لکه تاریخ ئي آزاد زمونږه ترهٔ ونیلے دے تاریخ:

د هجرت ئي زر سل شپږ وهٔ اشرف خان چي فوت شهٔ یاره غم انلوه د دهٔ تاریخ دے کهٔ حساب کړے وهٔ ئي شماره

امیر خان هم یو سروپائ ماتمي یوه هاتیه و ماته راستول او عذر معذرت ئي راته وکیښ. بهرام

نحوست انجام هغه زر چې له دې خايه وړې وو په خشيو تشيو ئې لږ مدت کښې صرف کړهٔ. د بنو د وزيرو د دوړو خشيِ تشي به ورته راغلل ډمان ورسره سرود به ئې ورته وکړ او اکثر به ئې ورته وې "د کرلانې بادشاهي ستا ده بهرام خانه" نور به ئې روپۍ مهران وروويستل واه واه دا هسې آمد او دا هسې خرڅ چې د پلار د مشر وررور د درستې قبيلې دا هسې د بې شرمۍ او په ظلم په تعدی زر جمع کا او دا هسې خرڅ کا. نقل دے چې په دا وخت د فرصت کښې د بهرام نحوست انجام يوه بوډۍ وه د ببرو چې خوے ئې هندوستان لره لاړ وهٔ دا وريسې لاړه هغه خوے ئې په هندوستان کښې وفات شهٔ. پس د خوې وطن لره رارو انه شوه چې خوے مې ومړ دا مال به په وطن کښې خورم د مرګ ورځې به پوره کړم. چې وطن لره راغله بهرام چا خبر کړهٔ سړې ئې وريسې تعين کړ. بوډۍ هغه مال د شيخ رحمکار قدس الله سرهٔ زيارت لره وروړ. هوري پسې سړې ورغلهٔ ځنې ئې راونيوهٔ. هغه بوډۍ ما لره په پيښور راغله ورته مې وونيل چې بوډۍ خدائ تعالیٰ ته نالش کړه دې ما زور قوت به په هغه ظالم د خدائ تعالي له لوريه وې. تر مرګه هغه بوډۍ له بد دعا ئې سحري فارغه نهٔ شوه. دا قسم [۴۰۳] ظلمونه کهٔ ئې کښنم طول شکوې. قطعه:

هيچ تا اهل را مباد دو چيز	زن نيکو نعمت بسيار
کان يکے را تلف کند بے شک	وآن دگر جلوے اے دہد ناچار

رباعي:

بهرام بنخه دے بد رنګه	رنګارنګ زيور پرې پورې
چې زيور ور ځنې واخلے	نور به نهٔ پيرے په تورې

څو دا مال ځنې کميدهٔ د عالمو تفرقه ځنې کيده اول منکوحه چې په شپه ځنې وتښتيده په اصل د پکلی ترکه وه چې په ډير تالاش ئې کړې وه. بيا ئې هسې بدی ورسره واخستے چې په روټې محتاجه وه په بيديا چا مړه کړه. بيا صدر خان کوته انديش ځنې راوتښ راغے. هذا القياس هغه د څوترې ترې هم د دهٔ له خويه بويه په تنګ راغلهٔ. خوے ئې له څوترې نه امير خان ته استولے وهٔ هغه ناقابل بې ادائي کړې وه امير خان له نجابت نرې وال سره په قيد کړ له جلال آباده ئې د اوبښ په کجاوه کښې کابل ته بوتلهٔ. يوه ورځ په شپه ئې فرصت بياموند دواړه ګريزان شول. نجابت له خانه دروند وهٔ چې څوکيدار پسې خبر شول د بهرام خوے خلاص شهٔ نجابت کښيوت د کوتوال په حواله شهٔ.په کابل کښې مړ شهٔ. خوے ئې غلجيو ته ورسيد غلجي ورسره شول پلار ته ئې ورساوهٔ. بهرام په څوترې کښې په تنګه راغے بنو ته ورغے په طمع د مال چې دا هومره مال مې پرې تلف کړے دے څهٔ به راته جمع کا را به کا.

هوري چې ورغے احمق پـه دا نۀ پوهيدۀ چې ملکونه چا په زرو ور کولو نۀ دي موندلي چې تـوره نۀ وي چا ملکونه په ميراث نۀ دي گټلي. القصه اخر د بنو عالمو يو ځو ريش خنده پورې وکړۀ خنـي راوتـبش ځـوتـري تـه راغـے. تـريو هم د ځوتري هميشه وئينه کوله چې دروه له ځـوتـري ووخه. هغو عالمو ته به ئې وې چې ما د فلاني سره صلح وکړه. خان به ئې په دا ساتۀ هـغـه وهـمـي گمان به ئې وکړ چې شايد سره قبيله دي گوندې کړے ئې وي. دلې زمونږ سره هم دم د مصالحت واهۀ په دا بهانه ئې خان له ځوتري راويوست. د افريديو په جمو راغے. هغه کـال نـاصر خان د جمرود تانه دار وۀ. امير خان کابل لره وبالۀ. زما د دۀ سره ډير اخلاص وۀ. نـاصـرخـان زۀ هم وبللم چې د کابل سير به هم په اتفاق وکړو د امير خان ليدو لره هم ورغلم ورسـره لاړم. اميـر خـان مـې وليد اما د ناصر خان د امير خان سره صحبت وران شۀ د جمرود تـانه داري امير خان د خپل ځوي ميرزا جعفر په نام کړه. گنج علي خان د توپخانې داروغه ئې ورسـره اتـاليـق کـړ. دا گنج علي خان عسکري د پېښاور ديوان له ناصر خان سره مخالف وۀ. نـاصـر خـان پـه کـابـل پـاتـو شـۀ زۀ امير خان رارخصت کړم چې کور ته راغلم ځو مدت پس عبـدالهادي د افتخار خان ځوے ناقابل د بنگښ فوځدار شۀ. محال تري بولاق ئې له ما نه تغير کـړ هـغـۀ ته ئې ورکړ. امير خان جلال آباد لره راغے. بهرام په دا وخت مخالف کښې فرصت غنـيـمت وشمارۀ. جلال آباد لره په معرفت د دغو نام برده ؤ امير خان ته ورغے. د امير خان د کـوچ وخت وۀ بيـمـار وۀ هـغـه کال په دا ملک عظيمه وبا وه. د بهرام ملازمت ونۀ شۀ. امير خان کـوچ کـابل ته وکړ چې په نمله (١) ورغـے وفـات شـۀ. نور ئې د پښتنو له ملاحظې د دۀ مـرگ پـټ درلـۀ. د کـابـل پـه لور ئې کوچ وکړ په دا اوان چې صوبه دار ومړ نسق د کابل د صوبې برهم وخوړ.[٣٠٢] اول يار خان خليل د داراب ځوے خانزمان په بازار کښې د پېښاور ځـوهتي ځخه د فيل بانو (١) د مهابـت خان تر مسجد لاندې مړ کړ. بيا بهادر لنډے مهمندو دستـگير ونيو هغه ئې مړ کړ. د يار خان خليل تاريخ د وفات مؤلف د کتاب وئيلے دے حساب به د فوت تري معلوم شي. يار خان ډير زردار وۀ. تاريخ ئې دا دے:

"سړ کندو د زرو مات شۀ"

بهـرام هـم ځو منزله تر قبره د جبار پورې ورسره لاړ چې په واقعي د امير خان له مرگه خبر شۀ خـنـې راوتـبش بـوړيـو ته راغـے. وخت ئې خالي بيامونـد چې امير خان ومړ. پېښور ته ئې سړي استـول چـې غـريبان مغل چې ځوک بې روزگار ياستئ رادرومئ. زر به زۀ درکوم. نوکران به نيسـم. افـريـدي آدم خيل ئې هم ټول کړۀ نيم سيرے ئې ورته شروع کړ د خټک په اولس به ئې هم پټ ځرگند سړي گرځول. ما لره ئې د خليل اکوړ خيل مور چې خير خاتون نوميده په

طریق د ایلچي ګری راستوله چې ته خاطر جمع لره دا لښکر زه دې تا غلیمانو ته کوم ته قرار په خانې ناست اوسه. زه هم د دهٔ له حاله په هر دم خبردار وم جاسوسان مې پرې پورې وو. خیر خاتونې ته مې ووې چې آفرین باد دې تا په ایلچي ګری. ښه په وخت راغلې. مونږ هم په شنکړ نیولې د ارتینې یا د زمکې یا د دنیا وې اوس لازم دا دې چې مشر تره دې په مدت دې زمکې ته راخي. مونږ به هم د دهٔ استقبال ته و خلوزیو ته ورشو ما هم لښکر د هر لوریه طلب کړ له سرایه وررروان شوم. خلوزیو ته منزل په منزل ورغلم. د خلوزیو مې کوچ و کړ په سپین خاک مې دیره کړه. دې د بوړیو په دره کښې وه. د تاخت خائې پرې نه وه یو فوخ ئې بوړیو ته واستوه یو فوخ ئې د جیناکوړ خلې ته واستوه. هر چې د دهٔ سره څهٔ اجنبي عالم ټول شوې وه هغه خنې واړه وتښتیدل. د دهٔ ځنهٔ خیمې ئې په لاس کښیوتې هغه ئې هم وتښتولې د افریدیو آدم خیلو بعضې ملکان رالره راغلهٔ چې مونږ غلط شو دا تقصیر لهٔ راته وبخښه. بهرام به مونږ له بوړیو وباسو. دې ما هم مطلب دا وهٔ چې د مسلمانانو تر میان خیر وې. طرفین بیګانه وو دوه پیاده مې ورسره کړهٔ چې بهرام د دغه پیاده ؤ په حضور له بوړیو وباسئ. دې ما پیاده ئې ورسره بوتلهٔ. بهرام ئې له کلیه ویوست د بوړیو درې ته ئې ننویست. ما هم له سپین خاکه کوچ وکړ خلوزیو لره راغلم. بعضې بنګښ افریدې اورکزې څهٔ مغلې په طریق معرکه خان جنت نبنان لره راغلو د شریف په باغ کښې. وې وئیل چې ملک میریو په مونږ غلبه وکړه زمونږ کار نهٔ شې. دې تا غلیم دې اوس دې پرې وار جوړ دې راخه چې قتل ئې کړو خان وفرمائیل چې تاسو خپلې مورچې پرېږدئ په دیرو شئ. دې او ما سره پرېږدئ. ملک میرې په بالاحصار کښې له قبیلو سره قلعه بند وو. اما ترین خان مړې همیش کول هیڅ پروادار نهٔ وهٔ. خان جنت نبنان چې ور ورسید په خپل فوخ ئې حکم وکړ چې سور پلې هله ورکانئ باړونه ملک میریو پرې پریښول جمعیت د خان جنت نبنان وهٔ نور ترې لاندې ووت مغل ئې لر کړل. مورچې ئې د دوې ونیوې. یو مړې ئې په سبا له ملک میریو نه وکړ نور ئې عاجزې راوړه نعرې ئې وکړې چې یو تاسې [۴۰۵] ختک راسره بد مهٔ کانئ نور پښتون مغل واړه راپرېږدئ. اخر الامر منت عاجزې ئې ډیره وکړه اګر چې دښمنې زمونږه قدیمه وه. خان جنت نبنان خپلې لوېي وته کتل ننواتې ئې قبوله کړه. لعل بیګ چې تره د شیر خان وهٔ په ننواتې راغې مینا حسن خیل د مورچې نه ورسره شهٔ راغلل د شریف په باغ باندې خان جنت نبنان ډیره وهٔ. لعل بیګ او ملک مینا راغلل لعل بیګ لاس په نامه خان جنت نبنان ته ودریدو وې ژړل. چې نن ورخ زمونږ د کتې ده. کهٔ مو قتلوئ کهٔ مو ساتئ. اګر چې خان جنت نبنان په خپل خلوت کښې ووې چې بنګښ مې قدیم غلیم دې او د امیر خان آزردګي

بـه هـم پـه دا کېښـې پيـدا شي او کۀ قتل ئې کړم خپله دښمني به مو ترسره شي او امير خان به رضـعـند شي. اما خپلې لويې ته ئې وکتل او نظر ئې په خپلې نيک نيتی وکړ. خپل غرض ئې تـرک کـړ او آزردګي ئې د امير خان اختيار کړه. بنګښ ته ئې امن ورکړۀ په شپه شپه ئې لعل بيک رخصـت کـړ. لعل بيګ په عرض ورسول چې عالم مو د ستر دي کۀ په شپه مو وباسے ستـر بـه مو په خاۓ پاتو شي خان جنت نښان ورته ووې چې تۀ ورخه خان جوړ کړه په شپه به مـو وباسم. په سبا خان جنت نښان کوچ وکړ. ورغے په خپلو مورچو باندې ورته ډيره شۀ. هر چـې بـاربـرداري خپـلـه وه يا هر چې په لښکر کښې باربردار وو او يا د اولس سور وۀ همه ئې پـلـي کـرۀ د ملک ميريو پړي ئې نۀ پريښې د مال متاع سره راواخست سلاح خانه د شير خان ډيـره پـاتـو وه هم ئې ولښه او په خپل لښکر ئې حکم وکړ چې کۀ مغل او پښتون درنژدې شي مـۀ ئـې پـريـږدۍ وُلې ئې خان پرې مړ کړئ. اما چې ملک ميريو ته ازار ونۀ رسي. په وخت د وتـو طبـيـعت مغلو او پښتنو پرې وازمايۀ ليکن جمعيت چې د خان جنت مکان غلبه پرې وکړه نـور شـا ورتـه کـړه. خپـلـو ديـرو ته مغل او پښتون لاچار روان شۀ. او دا خبره ډيره ډيره پرې ګـرانه وه ملک ميري ئې له ماله حاله راواخستل تر مکهډې دپاسه په شګکی باندې ئې واړول. پـه سبا ئـې پـونـصـو روپـی او ډيـر ميږونه او غوا او لوے لوے پسونه په مهمانی ورستول. ډير مـلـک ميـري خـورم او مـمـنـون شـول. چـې زمونږ ترې اميد د قتلولو وۀ ليکن خان دا رنګ احسـان راسـره وکړ. خداۓ تعالیٰ دې اجر دۀ ته ورکړه. شير خان په هندوستان وۀ دا حقيقت ئـې واڼه ورته وکيښ. او ترين خان امير خان نواب ته وکښل چې خان جنت نښان نواب حکم کـړ چې پـه کـومک د تـرين خان لاړ شه. ملک ميري قتل او بند کړه دے چې راغے په خپل جـمـعيـت ئـې حکم وکړ مورچې ئې واخستے ملک ميري ئې په قتل ورسول تر دا مينځه لعل بيک اوغيـره مـلـک ميـري پـه نـنواتے ورغلل ننواتے ئې د دوي قبوله کړه له ماله له اسبابه ئې راخستـل په خپل ملک کښې ئې خاۓ ورکړ آباد ئې کړۀ. هر ګاه چې جمعيت د دۀ ډير وۀ ما خپل قابو د جنګ ونۀ ليد جنګ مې ونۀ کړ. دې تا بې امري ئې وکړه هر چې د نواب و خاطر پـه رسي د اميـر خـان دا دښـمـني و خاطر ته پريوته. خان جنت نښان ته ئې ډيره ګيله وکښه. بهـرام نـحـوسـت [٦ ٠ ٣] انجام په هغه اولن چې لوے خان په يوسفزي کښې وۀ دے د کوړمو سـره پـه جـلـبی کـښـې وۀ. د سـراۓ تـاخـت پـرې وشـۀ. کوړمي هر څۀ سره راغے دے وتښ يوسفزيو ته لاړ. يوسفزيو د خان عليين مکان تر پښو واچوۀ چې خان عليين مکان د يوسفزيو نه خپـل مـلـک تـه راتۀ دے ئې هم ورسره راوست بيا ئې راستوۀ د خان جنت نښان تر پښو ئې پريوست. د خان جنت نښان هم چې زړۀ صاف وۀ د دۀ ګناه ئې معاف کړ. امير خان ته ئې

ودراوۀ دوه صد و پنجاهي منصب ئې و دۀ ورکړ. د غالي ډهير تانه داري ئې ورته واخسته. دے منافق وۀ پټ د امير خان سره د خټک د ملک کارسازي او د خان جنت مکان د قيد خبرې ئې واخستے. امير خان هم ډير شوم طمع لالچي وۀ. په سبب د ازاد ګګياني چې له امير خانه روئ ګردان شوے وۀ په سبب د خويښي چې له خان جنت نښان سره ئې وه سرائ لره بمع قبيله راغلے وۀ. خان جنت مکان دے د يوسفزيو په لور واستوۀ او کوررونه ئې خان ځخه وساتل. له سواته ئې لښکر د يوسفزيو جمع کړ په دوآبه راغے دوآبه ئې خرابه کړه بيا ابراهيم خان د علي مردان خان خوے چې په پښاور کښې وۀ په طريق د کومک راغلے ناست وۀ هغۀ ته رجوع شۀ له هغۀ سره بيا هندوستان لره لاړ. هرچند کۀ امير خان کوشش وکړ چې له ابراهيم خانه جدا شي او ماته رجوع. ازاد اعتبار پرې نۀ کاوۀ. دا معامله ئې واړه له خان جنت مکانه ګڼله. بل اول کال چې امير خان راغے بهادر شاه د اټک تر سينده پورې شۀ دۀ اراده د کابل د تلو وکړه په دا سبب چې پښتون د خيبر ماته محتاج شي نيت ئې د بنګښ په لارې د تلو وکړ. (۱) خان جنت مکان ئې په دا مصلحت وپوښتيد. دۀ هم صلاح وکړه چې د آخور په لارې کوهاټ ته کوز شه. خان جنت مکان ورغے په کوهاټ ئې دے وليد ورته ئې وونيل چې تر کابله تۀ هم راسره درومه جمعيت د لښکر هم دې تا شته. خرڅ به زۀ درکوم. خان جنت مکان قبوله نۀ کړه. شايد په سبب د کور د نفاق فرصت ئې ونۀ شۀ. ډيره مبالغه په ميان راغله. امير خان په دا دوه چارې آزرده شۀ. بهرام ئې په خپل ځائے له څو سورو سره د امير خان په رفاقت کابل ته مقرر کړ. هغه مکار بدبخت وخت بياموند لا ئې خپله چار پخته کړه. امير خان چې کابل ته لاړ بيا پښاور ته رانغے په جلال آباد پاتو شۀ. بادشاه ته ئې وکښل چې زۀ په دا لار د خيبر يا د کرپو يا د بنګښ چې هميشه درومم د پښتنو محتاجي ما لره بويه او دوي چې صوبه دار په دا لاچې محال طلبي کاندې او دا د ننګرهار ملک هم چې پښتنو ويران کړے دے لا ودان نۀ دے. کۀ بادشاه حکم کا زۀ تر کابله او جلال آباده ګرځم دا ملک به هم ودان شي. او پښتانۀ به هم ماته محتاج شي. بادشاه اختيار ورکړ نور ئې بادشاه ته د خان جنت مکان شکوه شکايت[۲۰۷] ډير وکيښ. بادشاه اختيار ورکړ چې تۀ صوبه دار ئې هر چې پوهيږې هغه کړه. د خان جنت نښان حکم ئې د قيد راجه رام سنګهه ته چې په جمرود وۀ راستوۀ. هغه زميندار وۀ قبول ئې نۀ کړ چې دا کار دې ما نۀ دے. بيا ئې سيد پهولا چې د شهامت خان خوے وۀ. په پښاور کښې هغۀ ته ئې وکښل چې په هر فن او فريب خان جنت نښان قيد کا. راجه رام سنګهه جنت مکان په ډير خواهش جمرود ته وبالۀ د دۀ په زړۀ کښې هيڅ نۀ وو. د بادشاه په دولت خواهي مغرور ورغے په سن زر دوه نوي اخر ثور يا اول جوزا

راجا رام سنگهه یو سروپایئ یو اس یوه د غاړې دهکدهکي ور کړ نور ئې رخصت کړ. ورته ئې اشارت وکړ چې په پښاور مۀ څه. بیرون درومه اخر دے از راه دولت خواهي ورغے د سید پهولا کره پټخپله ورغے چې اشنا دے دې وګورم نور لاړ شم. هغۀ له خدائ تعالیٰ هم دا غوښتل ورته ئې ووئیل چې تۀ کښینه زۀ کور ته لاړ شم چې څۀ طعام واستوم. طعام وخوره هالۀ دروسه دے ئې کښینـاوۀ نور ئې خلق ترې چاپیر کړل پروانه ئې د امیر خان وربنکاره کړه په قید ئې کړ الله داد خـان خویشکے چې په لنګر کوټ کښې وۀ بهرام په غالي ډهیر کښې وۀ دواړه په دا مصلحت شریک وو هغو ته ئې وکښل چې دا هسې کار ما وکړ اوس معطل نۀ یریه تاسو سرایئ لره ورددرومئ یو دوه وروڼه مزور مکار محیل زمونږ په قبیله کښې وو د مکاری په سبب به ئې زمونږ په قبیله کښې کادے او بادے بللې. د نوښهریو بدطینتو خوریونه ور. هغه بدبختان له بخله له حسده له فقیر جمیل بیګ سره فقیران شوي وو چې یو دا هسې وحت ئې بیامونـد په دا کشمکش په خیلخانه کښې به ګرځیدل دم جنباني به ئې کړه لکه روباه. خلق بـه ئې د بهرام په لور مائل کاوۀ. خان علیین مکان هم په هغه اوان پیر شوے وۀ. هغو بدبختو به ورته وئیل چې بهرام پیاز وۀ اوس څۀ خو پوخ شوے دے یعنې شیرین شۀ خان دې هم د بهرام په کار راغب شي. مؤلف د کتاب په هغه اوان د شپاړسو اوولسو کالو وۀ. په داسـن و سـال چې دا هسې هیڅ تجربه دکارونو تر سره نۀ وه تیره. د غاړې شول. اخر هغه ورځ زۀ له سرایه و بنکار ته وتلے وم لکه د خلمیو دستور دے هوا هوس مې به کاوۀ له ورایه یو سور ولیـد شـۀ. ګـمـان وشـۀ چې څوک له رفقاؤ پسمانده راپسې راغے اما چې نژدې راغے وپیژنـد شـۀ چې هغه جیلب دار دے چې له خانه سره پښاور ته لاړ وۀ. معلوم شول چې څۀ آسیب و خان ته ورسید. په مجرد دې ما د لیدو پویه و سرائ ته راغلم. په سرائ باندې غوغا وه. هر څوک پـه خپل مال په خپل خان ګرفتار وو. ملاحظه د خلقو دا وه چې اوس به فوځ رانسي چې راغلم یو ملا عثمان خدائ تعالیٰ ئې غریق د بحر رحمت کړه چې دتے نمک حلال قدیمي د دواړو خانانو وۀ خپل کور خپل مال ئې هر څۀ تر شا وۀ راغلے مسلح په دروازه کښې د محل ولاړ وۀ. چې زۀ ئې ولیدم راته ئې ووئیل چې زر ننوځه د محل عالم وباسه. د غرۀ په لور ئې روان کړه. زۀ ننوتم دلاسه مې د محل د عالمو وکړه نور مې د مجل عالم راروان کړ د غرۀ پـه لـور چې غرۀ ته مې عالم ورساوۀ. نور بیارته راغلم. ملا عثمان په خانے [۴۰۸] ناست وۀ پس له هغه مې حال مال و غرۀ ته کړ. نور زۀ راغلم خان علیین مکان ته لوے خان په نظامپور وۀ عابد خان ئې راسره کړ د سرور میلې ته راغلم. خان علیین مکان هم راپسې راغے جرګې معرکې ګډې شوے. بهرام د شیخ جیو زیارت ته راغے. را وې بالۀ. خان علیین مکان د

تـمـامـې قبیـلې او د اولس سره ورغے . زهٔ یک تنها په سرور میله پاتو شوم. معرکه ئې وکړه. بهـرام مـزور هـومره تزویر وکړ چې خان ئې فریفته کړ. په جرګه دا مقرر شول چې خان جنت مـکـان چې قید دے مغل دې ئې خلاص کا د بادشاه په حضور دې اوسي منصب دې ورکا. دا زمـان بهـرام لـکـه مـغل د وړاندې کړے دے هم دے دې اوسي. خاني ئې په نامه د بهرام کړه. پـس لـه هـغـه لـوے خـان بیـا د سـرور میلې ته راغـے . زهٔ چې په دا احوال خبر شوم کله مې په نـظـامـپـور وه روان شـوم خـان عـلیین مکان هم راپسې راغـے محال تري بولاق ئې هم په بهرام وسپـارل. د بهـرام خـوے ئې و لاچی ته واستوهٔ. څو مدت مې خان څخه په نظامپور کښې تیر کـړ. په امید د ملګیرې چې راسره به مل شي. خپل انتقام به واخلم. دا قصیده لوے خان بهرام ته په طریق د وصیت کښلې وه. دے پرې غافل شهٔ. قصیده دا ده:

زمـا زړهٔ لـــه چـانـه روغ نـــهٔ دے بهـرامـه	لـــه هـر چـا سـره مې زیسـت دے لـه ناکامـه
نـو کــرې خــوانـي دا دواړه لـکــه بـــام دي	پــــه پیـــرې کښـې لـــه مـا لاړل دواړه بـامـه
اوس دا دواړه بــامـــه ستـا دي نـنـداره کـړه	غــافـل مـهٔ شــه یـو زمـان تـر صبح و شـامـه
پــه دا اوښ بــانــدې چې ستـا کجـاوه ایښے	رسـوه ئـې چې پــرې نــهٔ وخـے تــر مـقـامـه
څــو دې دا نـــنـــداره شـــي شـکـــر وکـــاږه	پــــه چـا نـــهٔ وي دا خـوبـنـي عـلـي الدوامـه
تـــولا تبـــرا بـــویـــه پـــه اســلام کـښـې	چې ئـې نـــهٔ وي هـغـــه نـــهٔ دے لـــه اسـلامـه

دا قـصیده په کلیات کښې تمامه ده. هرګاه ناامید شوم خبر راغے چې خان جنت مکان بادشاه پـه قـلـعـه د ګوالیر محبوس کړ. نور سل کسه کم و بیش چې له قبیلو سره راسره وو په تاریخ دولسم د سن مذکور په سلخ د رمضان په لشوړه مې واړول چې مابین حد زمونږ او د افریدیو دے . هـرګاه چې ما هورته واړول سوارهٔ مې واستول بادشاهي لار مې ووهله. په مجرد د لارې د وهـلـو تمام مغل او یوسفزي او غوریه خیل راغلل په نوښهر ئې واړول. بهرام له لبنکره سره نـظـامـپـور ته راروان شهٔ. د بهرام خوے د تري بولاق د لبنکره سره په پتیاله راغے خان علیین مـکـان ښـادي پـور تـه راغـے . هغه کله د ملک میریو چې په شګی پرته وه راپورته ئې کړه په جـمـو ئې واچوله. عابد خان مې له فوځ سره واستوهٔ د بهرام خوے ئې له پتیالې ویوست. زهٔ په لشـوړه نـاسـت وم. بهـرام چې په نظامپور راغے خان علیین مکان ته مې وکښل. عابد خان له ښـادي پوره، زهٔ له لشوړې مو پرې وزغلولے . بهرام شکست وخوړ څو سوارهٔ ځني پریوتل. د تـوتیـالـې په غابنې وخوت لاړ. پس له هغه ئې د غوریه خیلو د یوسفزیو معرکه د کمرو میلې ته راستـوله. زهٔ هم له خان علیین مکانه د کمرو میلې (۱) تـه راغلم تمامي جرګې [۹ ۰ ۳] خان ته ووئیل چې هغه دې تا خوے دا دې نمسے اختیار دې تا کهٔ سرداري دهٔ ته ورکوے کهٔ هغهٔ ته.

خان علیین مکان ورته په خوب کښې ووئیل چې دې ما آزردګي دا ساعت د دواړو په سرداری نهٔ ده په هغه جرګه چې څهٔ مقرر شوي وو د بهرام سره چې خان جنت نبنان چې په قید دے خلاص دې شي دا په کوم سبب په ګوالیار کښې محبوس شهٔ. بویه چې لکه قرارداد شوے دے د ګوالیاره دې کوز شي په منصب دې سرفراز شي. دویم دا چې محال ترې بولاق دې و ما ته راکړل شي او شل زره روپې مدد خرڅ. معرکه په دا تمامه شوه. چې لاشوړې لره راغلم ما خان ته عرض وکړ چې دا ساعت دې ما فکر او سن او سال تقاضا د سرداری نهٔ کا. داهومره تلاش مې محض د پلار د خلاصې دے. ګنه د بهرام نه سرداري اخستل د خدائ تعالیٰ په کرم و ماته آسان دي. هر وخت چې کمربندي وکړم انشاء الله تعالیٰ ترې به ئې واخلم. هر چې تا دا معرکه وکړه ډیر دې ښهٔ وکړهٔ زهٔ هم پرې راضي شوم اوس دې ما د وخت تقاضا دا ده چې دې تا په خدمت د کفش برداری کوزه برداري کوم چې تربیت کیږم. اما یو شرط کړم تر هغه وخته پورې چې ښو خان دې ما او دې بهرام په ناستي راضي شوے نهٔ دے. خان علیین مکان قبوله کړه. راته ئې وفرمائیل چې ما بیګاه دوه قطعې د بهرام په باب وئیلي دي هغه دا دي: قطعه:

د بهرام په لبنکر مهٔ خه — په ورتللو کښې درنګ نهٔ کا
خو چې څهٔ خو توربرېښن وشي — نور له تیښتې نه ننګ نهٔ کا
کاه سرے ګهې پېرے شي — واړه چارې په رنګ نهٔ کا
د فرعون د جادو ماران باطل وو — د موسیٰ د معجزې د مار د وړاندې
عاقبت به فضیحت او شرمنده شي — دروغژن چې له رښتینو حجت کاندې

اخر مې له لاشوړې کډه و درګې ته بوتله. خان علیین مکان و ښادې پور ته ورغے زهٔ ئې هم وبللم راته ئې حکم وکړ چې بابکه د آتش مستې خیل او د تیرې د مندهنړو داغونه دې ما په زړهٔ دي و تا حکم کوم چې لاړ شے تنبیه د دوې بواقعي وکړه. د یوټ کوټ ساز کړه. زهٔ هم په موجب د حکم د خان تیرې ته ورغلم. معرکه مې د تریو راوبلله. آتش مستې خیل د مندهنړو سره وتبن. تاخت مې پسې وکړ. په کوه دامن د یوټ پسې ورسیدم. جزوي جنګ و جدل وشهٔ نور په بدحال په غرهٔ راختې وختل لاړل. شپه مې په شابې خیلو وکړه. د لاچی د خورمو او غیره لښکر مې راوبالهٔ په شپه مې سوارهٔ د دلن د ګرګرې ایسوړیو ته واستول چې هغه سبا دې کربوغې و مخې ته راشي. سبا د وخته سور شوم تاخته په شیشم ورغلم سرسواري مې د آتش دوې کلي وسوهٔ دوې خنې تښې وو. د دوې به پې پسې همروزه په کربوغې ورغلم. مالونه حالونه ئې خائے په خائے پاتو کیدل. له هغه نه بیا د کندې په لار

نمازپښین کوز د سوتړې پکلي د بنګښو پسې ورغلم. د هغې کلي ښځې مخې ته په ننواتې راغلې چې دې له دې کلیه هم لاړ هیڅوک نشته قرار په دا وشهٔ چې کهٔ به دا کلي کښې صحیح شهٔ دا کلې وهلې. راغلم شپه مې په کربوغه وشوه. درې شپې مې په کربوغه کښې وکړې. مرزا خان بده خیل ما لره راغې استمداد ئې د کومک وغوښت چې یو تر بله د بده خیلو دښمنۍ ده ورته مې ووېړ[۰۱۴] چې زهٔ دا زمان په یو بل کار راغلې یم څو دا کار سرانجام ته ونهٔ رسي فرصت د استمداد مې نشته. د کربوغې نه مې کوچ وکړ راغلم په شیشم مې واړول. غلې زراعتونه مې د ایسوړیو مال راوغوښت پرې مې وخوړوهٔ. د ایسوړیو سره مې مقرره کړه چې شیشم و تاسو ته درکړے راشئ اباداني پرې وکانئ. دوي هم قبوله کړه. کتخدایان مې د ایسوړیو و حضور ته چې پروانه هم د خان علیین مکان په خپل مهر درکا راستول. نور راغلم په یوټ مې واړول. د یوټ قلعه مې هم سازه کړه. نو و لاچي ته کوز شوم. خان علیین مکان ښادي پور ته وبللم زهٔ چې په تیرې وم زمونږ کله هم له درګې نه راغلې وه نظامپور ته. د خاله مې رخصت وغوښت نظامپور ته راغلم څو شپې مې وکړے. بیا ښادي پور ته ورغلم. ماله ئې حکم وکړ چې تهٔ بیا دروم‍ه یوټ ته. په سن زر درې نوې په موجب د حکم لازم راته ئې وفرمائیل چې زکات د غلې په ترې بولاق مقرر کړه. هغه کار ناممکن وهٔ کتخدایان مې ورته حاضر کړل ځواب سوال ئې ورسره روبرو وکړ. په دا میان کښې چې زهٔ له لاچي راغلم خان علیین مکان پروانه د دلاسې آتش مستي خیل ته ورستولې وه. هغه چې ما شړلې وهٔ بیا ئې په ځائے کړ. چې یوټ ته ورغلم آتش وغیره راغلل پیشکش مې ځنې واخستو بنهٔ بندوبست مې د هغه ملک وکړ. محصول د ملک وغیره مې په خپل لاس کښې کړ. نقش مې پرې کښیناوهٔ. هغه اوړے په یوټ تیر شهٔ. مني ته بیا خان علیین مکان نظامپور ته وبللم. دې ما په نظامپور داخلېدل د خان په لور د ببرو په جرګه د بهرام وتل. سره ئې قرار د جرګې کړے وهٔ چې د سرائ عالم دې ببرو ته راشي زهٔ به هم ببرو ته ورشم چې دې ما د داخلېدو په نظامپور خبر شهٔ. په ببرو ئې د بهرامه سره ولیدل. ما لره ئې یحییٰ خان او هغه مزور شیخ باز راستول چې مونږ دې د پلار د خلاصې جرګه کوؤ تهٔ هم بویه چې راشې په دا جرګه داخل شې چې دې ما له د بهرام خاطر جمع شي. واړه به سره اتفاق وکړو مغل ته به سره یو شو کهٔ مغل په دا کار کښې سستي کا بدې ده. زهٔ خو پوهېدم چې د دوي مقصود څهٔ دے ورته مې ځواب ورکړ چې زهٔ په دا معرکه نهٔ درځم کهٔ بهرام اتفاق دې ما د پلار په خلاصې کا دا وسواس دې نهٔ کا له مانه چې زهٔ به مغل ته ورشم. او کهٔ تاسو نور خپل روزګار سره لرئ زهٔ د روزګار ګډون نهٔ کوم. رخصت مې کړل خان علیین مکان له هغې جرګې بیا

راغے نظامپور ته ماته ئې وفرمائیل چې څونصو روپۍ درې ماهه مونږ دې تا د خرڅ دپاره د بهرام سره مقررې کړے. ته خپل سرې ورسته خیر آباد ته چې اخلي ئ. ما ورته ووې چې دې ما دې تا قرارداد سره هومره وۀ چې څو تۀ دې ما او د بهرام سره په اتفاق راضي شوے نۀ ئ. اوس چې تا او دۀ سره اتفاق وکړ دې ما په اتفاق هم د بهرام سره راضي شوے اوس دې ما دې تا سره جدائي ده. هٰذا "فراق بیني و بینك" نور مې امیر خان ته وکښل امیر خان ډیره آرزو دې ما د بللو کوله اما زۀ ور نۀ رغلم. چې دې ما خط ورغے په هغه زمان ئې پروانه او پنځه وکښه. د ظفر خان نیایۀ په لاس په معرفت د ملک محمد ارباب و رائ مان سنگهـ دیوان راستوله زۀ هم[۱ ۱ ۴] ورروان شوم. چې په خلوزیو ورغلم آزاد خان نیوي، ملک محمد ارباب اوغیره کتخدایان په موجب د امیر خان و استقبال ته راغلل پېښور لره ورغلم. رائ مان سنگهـ دیوان مې د امیر خان ولید. اس او سروپائ ئې د امیر خان له لوریه راکړ. ممریز خان جماعه دار ئې د امیر خان راسره کړ. د کرپو په لارې کابل لره ورغلم د امیر خان د کوچ وخت وۀ جلال آباد ته. یوه شپه مې په کابل وشوه. امیر خان خواب راستوۀ چې سبا به دې ما ډیره په بگرامي (۱) وي. ساعت دې تا د ملازمت هم سبا دے ورسره راوورتم په باگرامي (۱ الف) دے ډیره شۀ لا په ولاړه مې ملازمت وکړ. چې زۀ ئې ولیدلم راته ئې وونیل چې په خان د بهرام بلا راغے. نور ورسره تر جلال آباد راغلم ډیره مهربانگي ئې کوله. د ما له خدمت هم رضامند شۀ. دوه صد و پنجاهي منصب ئې دې ما تجویز کړ او هغه برادرې چې دې ما سره وه د بهرام نه ئې علیٰحده کړه نور ئې سروپائ او کمر خنجر راکړ زۀ ئې پېښاور ته رخصت کړم. د خیبر په لارې جمرود ته راغلم. راجه رام سنگهـ چې د جمرود تانه دار وۀ، وۀ مې لید. قسمونه مغلظه ئې راته وکړۀ چې گوندې دې تا گمان وې چې خان جنت مکان ته چې دا آسیب ورسید دې ما په مصلحت وۀ. د زمیندارانو وارو سره یوه رشته ده. چې یو زمیندار د بل زمیندار بد غوارې خدائ تعالیٰ دې ئې هسې حال کا لکه د شهامت خان د کورمې. د شهامت خان د کورمې دا حال وۀ چې په دوه کاله کښې هم شهامت خان هم ئې ځوے خامن هم ئې ورور هم ئې نمسي واړه ومړل. نور ځنې رخصت شوم. پېښاور ته راغلم. هغه وخت چې زۀ د خان علیین مکانه خاطر آزرده مغل لره راغلم متعلقان په نظامپور وو. خان علیین مکان از راه اعتراض راروان کړۀ جینا کوړ ته راغلل. په دا اوان کښې خان علیین مکان له نظامپوره دپاره د بندوبست په طرف د لاچي روان شۀ. صاحبے میشک د تمامه میشکه سره نا اعتباره شوے وۀ خان مدد د کومک له بهرامه وغوښت د اولس لښکر بعضې سوارۀ ئې له هغو مزورو چې کادې بادې بلل شول ورسره د خان په خدمت ورکړل. اما اولس په دوه

کاله کښې چې خان جنت نښان د اټک تر اوبو پورې شۀ د بهرام نحوست انجام خاطر جمع شۀ ظلم ئې تر حده زيات واخست. څوک ئې وژلۀ بې گناه. له چا ئې مال اخست. تعزيت د بهرام رسوائے عالم وۀ. چې څۀ خو ئې لاس ورسيدے نور صرفه نۀ وه. خان علّيين مکان د دۀ په باب فرمائيلي دي ابيات:

راشــــه گــوره د بهــرام د نـفــاق چــر   کــه سـنـي کــه رافـضـي گڼے کـافـر
کـلــه ښــۀ زويـه د پـلار او د وررور ورور شي   کــه لــه واړو تــوکــو گــرځي پــه نـځر
دا تــالـيــر د بــد پــتـي دے کــۀ د تـخـم   چـې غـنـم پـکښې کـرے کيږي جـودر
کـۀ لـوگـے د اور فـرزنـد دے پـه دا څـۀ شو   چـې د اور غـونـدې ئـې نشتـه خـير و شـر
پـه مـادر کښې ئـې بلا وې کۀ په پلار کښې   چـې دا هـســې خـنـې زيـږي گـيـدې خـر
بهـرام خـان سـعـادت دے هـم يـحـيیٰ دے   پــه خـصـلـت کښې سـره يـو تـر بـل بتر
و خـانـي ئـې وتــه زغـلــه هـنـر هـيڅ نــه   و عـــالــمـو تــه پيـدا كـره درد ســر
خـانـي کـار د هـر چـا نـۀ دے د هغۀ دے   چـې صـرفـه ئـې نــۀ پــه زر وي نۀ پــه سـر
يـکـباره ئې پــه نـظر کښې شرم و ننگ وي   د دنـيـا پــه سـود او زيـان نــۀ وي خـبـر
د خوشحال خټک کۀ صل زويه نمسي دي[۲۱۲]   لا لائـق د خـانـي نشتـــه يـو پـســر
د مـزريـو نــه خـالـي نـۀ وي هيڅ درگــه   خـداې پــه ډيـر پـکـښې پيدا کـا شير نر
د بــې بــې اولاد هــمــه گيدړ ميدړ دي   پــه افـضـل پــه مـعـظـم لـگـي نـظـر
کۀ طـالـع ورسـره مـل شـي خـان څرگـند کا   بـيـا بــه هــلـه تــتــر يـخ کـا د پـدر

اولس خنې په تنگ راغے په دا آوان د خان زمان او د ظفر خان لوهاني چې دواړه سره تربرونه وو عداوت ئې وشۀ. يو مدت ظفر خان د خان زمان له لاسه راتښے په مروتو کښې ناست وۀ. بيا په صلاح د لوهاني ظفر خان ورغے. خان زمان ئې وشاړۀ. خان زمان بنو لره راغے تمام لوهاني پسې لښکر وکړ. په بنو راغلۀ جنگونه جدلونه تر ميانه ډير وشول. وزير دوړ وغيره کرلانيو ننگ د خان زمان واخست. خان علّيين مکان لره هم خطونه راغلل چې دا ننگ د کرلاني دے تۀ هم راشه. خان علّيين مکان د اولس د لښکره سره په پټياله ورغے اولس ورته جرگه وکړه چې کۀ صلح د ميشکو سره کړے تر ميان به شو کۀ نۀ وې د ميشکو سره بدې نۀ کوؤ. خان علّيين مکان وپوهيد چې اولس د بهرام له ظلمه په ستوه راغے دے نيت د بدی لري. نور ئې يو خس پوښې ميشکو سره وکړه. يوټ لره روان شۀ. اما اولس په جمع خنې راوجاروت. معرکه ئې وکړه چې زمونږ سردار مؤلف د کتاب دے. بهرام چا سردار کړے دے زۀ به پښاور کښې وم چې سرې د اولس راغلۀ چې رادرومه څۀ لره د مغل محتاجي کړے. اما

زۀ چې امیر خان لره راغلے وم دے مې لیدلے وۀ حساب مې څنې کیدۀ چې دا بې وفائي شي چې زۀ بې د دۀ لـه صلاحـه بهـرام چې د دۀ دست گرفتـه دے پرې ورشم با ئې څوم. دوه عـرضـداشتـه مې ورته و کښل چې اولس به خرابې د بهرام ملا وتړله کۀ حکم دې تا وي زۀ به ورشـم. د دۀ اعتبار دې ما په کښلو نۀ کیدۀ. بهرام به ورته دروغ کښل چې ښۀ بندوبست مې د اولـس کـړے دے. دوه پروانې ئې رالره وکښے نۀ به منع نۀ په حکم زۀ وپوهیدم چې راضي دے. اما اعتبار ئې نۀ شي. چې زۀ ورته حکم وکښم دا چار دا هسې نۀ وي. بهرام به هم راځني نااميد شي. نور زۀ له پښاوره جیناکوړ ته راغلم. د اولس کتخدایان واړه رالره راغلل چې مونږ د بهرام سره اوس په بدې برمنډ شو روزگار مو سره غلط شۀ پاخه راځه. په بهرام اور ولگید. زمکـه پـرې تـوده شوه. الله داد خان خویشکے چې د لنگر کوټ فوځدار وۀ د دۀ سره بدنام وۀ شـرم ئـې سره یو وۀ. ورته ئې و کښل چې اولس راځني وجاروت کومک راستوه الله داد خان انوپ سـنگهـ راجه له فوځه سره او جبار قلي گکهړ نمسے د خان ملک له فوځه سره ورلره کومک راستول او څـۀ سـوارۀ د یوسفزیو راغلۀ. زۀ له جیناکوړه مهراجي لره راغلم تمام د اولـس لښکر راباندې جمع شۀ. یو د سیني (۱) تپه تر نمازدیگره حاضره نۀ شوه. د بادر خیلو (۲) پـه کـلـي ئـې جمعیت کړے وۀ ناست وو خواب مې ورستوۀ. چې یا زر راشئ یا به اوس تر ساعت نیست نابود شئ. دوي هم خواب راستوۀ چې مونږ هم تیار یو هر ځائے ته مو چې بولے حاضـر یو. په مهراجي دې ما شپه ونۀ شوه هم هسې سرسواري راروان شوم. په ولي مې ديره شـوه خنـه لښـکـر هـم راغے راسره مل شۀ. سبا چې مونځ مو وکړۀ د آزۍ په لارې په سرائ راغـلـو. بهـرام د خپله فوځه سره او د راجپوت [۲۱۳] د گکهړ چې پخوا ئې حقیقت کښلے شوے دے له سرایه راووت د سرائ ورچنې مقابله وشوه شکست ئې بیاموند تر نوښهره پورې چې اووۀ کـروهـه مـفـاصـلـه لـه سرایه لرې یکهمان لاړ. ډیر راجپوت گکهړ سوارۀ پلي ترې پـریـوتـل ومـړل قبیلې ئې د سرائ په گودر پخوا پورې شوے وے دے د نوښهر په گودر پـسې پورې ووت د کـوړمې سره لاړ د یوسفزیو مرغز ته په سن زر څلور نوي تحویل د حوت مونږ راغـلـو په سرائ داخل شو. هغه دوه وروڼه مزور چې په یوټ کښې د خان علیین مکان سره وو د بهرام د فوځه سره وو په اوریدل د بهرام د دې واقعې د یوټه تاخته په کومک د بهرام راغلل چې په دا حال خبر شول چې بهرام وتښ ولاړ دوي بې دست و پایه شول. په شپه د یحییٰ خان کـره چې زمـونـږ سـکـه تـرۀ وۀ په ننواتې ورغلل چې کۀ د دۀ د مخه جان بخښي وشي. سبا د وخته دے ورسره زرد رویه ئې راوستل په خاطر د یحییٰ خان ځان بخښي ئې وشوه. څو ورځې پس خپل وخت د قابو ئې وکوت له هراسه مرغز ته د بهرام وتښتل بهرام شپږ اووۀ زره روپۍ

خرڅ کړے په طریق د رشوت لښکر د منډن لې تول کړ. زۀ هم پرې خبر شوم لنبې ترلے ورغلم لښکر مې ورپورېوست خو چې له ورایه لښکر نمودار شۀ. د بدیو د رشوتونو (۱) لښکر وۀ تار په تار شۀ شکست لې وخوړ. تر مانکي (۲) پورې یک جلب پلي سوارۀ په تیښته لاړل. خان علیین مکان په دا وخت چې په یوټ کښې وۀ له مرغز ئې د بهرام خوړے معظم وبالهٔ د سورو د جمعیت سره خود په لور د سوپیالي متوجه شۀ. نه په بدی دي ما د اولس دا بې ادائي ورته بده ښکاره شوه چې دې ما بې امري ئې وکړه. (۳) هرګاه چې زۀ خبر شوم په سبب د بهرام نحوست انجام د خوي چې له خان سره وۀ زۀ هم د نیلاب غاښې لره ورغلم. یحیی خان مې پخوا ښادي پوز لره د سورو له فوځه سره استولے وۀ. چې خان په زېړه راغے د پټیالي صاحب میشک ترسم سیني له ګنبته دا هم په لښکر ورسره یحییٰ خان د خان له ادبه ښادي پور پرېښ د نیلاب غاښې لره ورغلم اما جریده لښکر مې ورستوۀ وسواس مې په خاطر وۀ چې د بدفرجام خوړے ورسره مبادا یوه فتنه وکا. د غاښې په سر وختم بهانه مې تماشه کړه چې د غاښې په سر نن ورځ لنداره وکړم چې بیګاه له به ډیرې ته راکوز شم په مجرد د غاښې په سر د ختو هغه بدبخت له لښکره سره په یحییٰ خان پسې راغے اما چې دې ما نښانونه ئې په غاښې ولیدل پسته وجاروت. یحییٰ خان مې هغه ځائے ډیره کړ زۀ د لښکر دپاره په سارۀ توئ ډیره شوم. سبا مې کوچ وکړ د کهي په ډنډ مې واړول. خان علیین مکان دانا وۀ عاقبت اندیشي ئې وکړه جمو لره ولاړ لښکر د ترې بولاق ځنې تفرقه شۀ. سبا زۀ تاخته د لښکره سره په پټیاله ورغلم. لنبیه مې د موشکو (۴) وکړه له پټیالي ګنبت لره ورغلم د سینیو لنبیه مې وکړه ملک ترسم سینے وغیره ګیشاخیل (۵) مې د کورونو سره سرائ لره راستول. خان علیین مکان لره مې وکیښ چې خان دې مهرباني وکا نظامپور لره دې راشي او د بهرام خوړے دې پلار پسې رخصت کا دا نور فرزندان چې له خان سره دي[۲۱۴] ما لره دې راستوي. په موجب دې ما د کښلو خان هم هسې وکړل. زۀ هم د خان په خدمت نظامپور لره ورغلم ملازمت مې وکړ ډیره مهرباني ئې راپاندې وکړه. رخصت ئې کړم ما هم څو اسه څو بازه څۀ نقد څۀ جنس په خدمت ورستول په دا میان کښې کدخدایانو د مهمندیو د سینیو څۀ ګُندیت د بهرام وکړ. سوارې مې وکړه ملکان مې واړه په قید کړۀ لنبیه ئې بواقعي وشوه. یو نیم کال په دا مقدمه تیر شۀ. اخر الامر امیر خان منصوبه باز وۀ طامع وۀ الله داد خان ته ئې وکښل چې د بهرام سره کارسازې وکړه دلاسه ئې کړه ما لره ئې هم وکښل چې کۀ څۀ ما لره راکړے. ما ورلره وکښل چې زۀ ارباب او. ملک او اجاره دار نۀ یم چې له ما نه څۀ غواړے خو یو نوکر یم وطن دې ما جاګیر کښې دے کۀ لږ دے کۀ ډیر دے قناعت مې پرې کړے دے خدمت کوم د

بادشاه. خپل ملک خپله نوکري خو خولې نۀ شم. ځني کرده کار هم درمیان وو هغو ورته ووي کۀ تۀ تېنګ شې البته به څۀ ترې وخېژي. په دا کار لې مبالغه وکړه په سن زر پينځۀ نوي پنځلسم د رجب ما هم سرای پرېښ قبیلې مې و غرۀ ته کړې. اولس سر هوا شۀ عظیم فساد ترې راپاڅېدۀ لور په لور تاختونه باختونه وشول د لکونو مالونه تاراج شول. تر پښاوره تر اټکه څۀ مدت بادشاهي لار بند شوه. امیر خان په فکر د غرۀ د مهمندو د مهم وۀ یوسفزي ئې دلاسه کاوۀ چې سه بندي نوکران شي مهم د مهمندو وکاني لار د کړپو جاري کانې. د کړپو د لارې محصول هم دې تاسې. د همزه سګ په معرفت تمام یوسفزي ورغې خائې په خائې د کړپو په تانو کښې کښېناستل نهۀ لکه روپۍ امیر خان پرې وخوړولې د ښتنو معرکه د خیبر په لوارګي جمع شوه لښکري غلجي د تمام غلجي د کدخدایانو سره د شنواري ملکان فتح خان بولاق ئې دریا خان افریدي د مهمندو کدخدایانو ملک چوهړ وغیره ایمل خان وفات کړې وۀ. (۱) خوېه نمسي (۲) ئې حاضر وو. اما په دا کښې لکه د ښتنو دستور دې بعضې مغلې وو خان جهان غفور شنواري چې امیر خان د ډکې په ورکړو غلولې وۀ چې ډکه مې د مهمندو واخستۀ و تاسو ته مې درکړه په افریدي د درویزه کور چې عالم خان ئې سردار وۀ په سبب د دریا خان د تربرتې مغلي وۀ. (۳) په خیبر کښې هېڅ کار نۀ کېدۀ معرکه په دا وشوه چې د هر اولس کتخدایان دې دروې په خپل لور دې د مغل بدي کا. زۀ هم ځني تونکې ته راغلم چې دې ما کده په تونکي وه د آدم خیلو کتخدایانو دریا خان راسره کړ چې دا دې هم کومک دې. چې زۀ تونکي لره راغلم تړولي مې د افریدیو وکړ بولاقي کالۀ چې په سبب د عالم خان جنبه وو نفاق ئې وکړ رانغلۀ هغه تړوله هم تفرقه شوه دې ما تونکي ته راتللۀ د کډې سره سبب دا وشۀ چې دا ملک د سرای ویران شۀ. امیر خان الله داد خان چې په لنګر کوټ وۀ او تمام فوځ لښکر د کابل د صوبې ئې نوښهر لره راستوۀ. یوسفزي ورسره بهرام هم ورسره خان علیین مکان سونیالي لره راغې د بهرام خوې معظم ئې د فوځه سره وبالۀ ځان سره ئې کښېناوۀ اولس تمام دې ما سره متفق چې زۀ خبر شوم له لښکره سره پرې ورغلم په خوړه کښې د سونیالي کښېناستم اولس بجد شۀ چې پرې ورځو اما ما عاقبت اندیشي وکړه چې دواړه لوریه سره قبیله یو طرفین عالم به مړ شي د مغل خوا به سره شي. [۵۱۴] بل مې د خان ادب ساتۀ ځان مې کناره کړ کده مې تونکي ته راوسته. په افریدي کښې هم نفاق پیدا شۀ. دریا خان د درویزه له کوره ناویسا شۀ لښکر ئې په راجګل چې د درویزه قبیله تپه د کوکي خیل پکښې وه وکړ چې په راجګل ورغې د درویزه کور په غرۀ وخوت افریدي چې ورسره وو تماشبین طریق شول. د جنبه (۱) کور د درویزه کور سره ولګېدۀ. د دریا خان خوې فتح

خان چې ډېر ښهٔ ځوان وهٔ په هر څهٔ تر دریا خان بهتر په توپک مړ شهٔ. په دریا خان باندې د درویزه کور راغے هسې توري ئې ووهلے چې د ېل چا کار نهٔ وهٔ درې څلور کسه ئې په هغه ځائے څوېه نمسي ښهٔ ښهٔ ځوانان ئې له لاسه ومړل. دے زخمي په ځائے پاتو شهٔ نور زخمونه ئې سهل وو د زانو په سر زخم ئې درد کاوهٔ. مال حال د درویزه تالا شهٔ. عالم خان (۲) چې د درویزه خوږے مشر په جمرود مغل څخه وهٔ مغل ته ئې ووئیل چې دې ما په قبیله دا هنگامه وشوه اوس فوځ مدد راکړه چې زهٔ خپل انتقام واخلم مغل هم دا وخت غوښت چې دوې هم سره استخوان شکن شي. فوځونه ئې ورسره کړهٔ نور چې د دریاخان زوم وهٔ په چوره (۳) هغه ئې مړ کړ نور ئې په تیراه په دریا خان پسې مهم واخست د دریا خان چې قابل ځوے وهٔ هغه مړ وهٔ (۴) دے په خان زخمي الریدے ئې چې مل گوند وهٔ ځنې ویزار شهٔ تاب ئې د استقامت نهٔ وهٔ په کټ ئې واخست قبیلې ورسره خوست ته ئې یوړ. امیر خان ډېر تالاش په زرو د دهٔ وکړ د خوست عالمو سره. اما هغو نه قبلول. پس له څو ورځو هم په خوست له هغه زخم مړ شهٔ. هم هورې ئې کښېښو. په مهمندو باندې د مهمند په ملک په کړپو چې څهٔ لښکر د مهمندو یوسفزیو څهٔ ټول وهٔ چې لار ئې چلوله د مهمندو کډې ځائے په ځائے په غرونو کښې په روزگار تنگې شولے. اما یوسفزیو ته چې ئې زر ورکول هم مغل پکښې تنگ شهٔ نهٔ لکه روپې خرڅ شوے. یوسفزي هم لوے اولس وهٔ په دا لار کښې به ئې مغل ازارول او محال طلبې ئې هم ډېرې اخستے. عالمگیر بادشاه ته هم چا تر عرض ورسول چې امیر خان تروړې له غاره وویسته مزرے ئې پکښې نه ویست. بادشاه دا نهٔ لکه روپې واړه د امیر خان په سر مطالبه کړے. امیر خان هم ناعلاج شهٔ. سرې ئې تر مینځ کړهٔ کدخدایان ئې د مهمندو وبلل بندوبست ئې د لارې ورسره وکړ. دلاسه ئې کړهٔ. یوسفزي ئې وار په وار واړه رخصت کړهٔ. یو همزه خان د ځوې سره ئې د خان څخه وساتهٔ. دوهزارې منصب د همزه خان پانصدې د جلال خان (۵) په دا سبب چې د مهمندو سره ما بدې وکړه. مبادا چې زهٔ یک لخت یوسفزیو ته شا کړم دا دې ما بد د دوې په خاطر کښې بیا یوه معرکه د بدی اغاز کا. د همزه خان دې لکه د بیزوگې دې ما په لاس وي چې ورته ئې ښکاره وم. په سن زر شپږ نو زهٔ په توتکې کښې وم څو وخته بیمار شوم. خان علیین مکان له نظامپوره دې ما پوښتنې له راغے. ډېر شفقت او مهربانې ئې وکړه ښادې پور ته روان شهٔ. زهٔ ئې هم ورسره روان کړ لاچې ته ئې رخصت کړم. پخوا تر ما هورې عابد خان ورغلے وهٔ دې ما سره د خان علیین مکان سره د بهرام سره د هر چا سره ئې بې وفائې کړې وه.[۱۰۶۴] چې زهٔ په لاچې داخل شوم په دهٔ گویا کانے پرې ووت چې دے هورې وهٔ دا اولس سره ئې سازشت کړے و

تر ما پښخوا په باغ ئې هم لښکر کړے د باغ قلعه ئې تنګه کړه. ترې پر دوه څايه جنبه شول څوک د دۀ په لاس کښېوتل. هم هغه ئې اولجه کړۀ راروان شۀ لاچی ته راغے. د باغ اوان چې رپوهيدل چې دا هنګامه به هميشه وي. اصالت ګکهړ چې د جال فوځدار وۀ هغۀ ته ئې وکښل د ګکهړو فوځ ئې راوست په باغ ئې ننه ايست. پښتانۀ متل کا چې ووېشته دې مۀ شه لا دې ګړندی کړه ما وته ئې هم په لاچی کښې د اولس ګوندی پټې څر ګندې سازولے. تر دا ميان راجه رام سنګهه د کوهاټ د بنګښ فوځدار شۀ کوهاټ ته راغے. زۀ پاس خورمو ته ختلے وم هورې مې واوريدل په هغه څائے پاتو شوم. دے په لاچی وۀ د سعدالله ملک ميري په معرفت چې د شاهي بيګ مکهډي.زوم وۀ راجه رام سنګهه لره ورغے. دوه بازه يوه جره پېشکش ئې تر نظره تېر کړۀ. راجه رام سنګهه سروپای ورکړ محال د ترې بولاق د راجه رام سنګهه په جاګير کښې وۀ فوځ ئې خپل لاچی ته رخصت کړ. دے ئې هم ورسره رخصت کړ چې په لاچی راغلل سيني ئې واړه جرګه کړل چې په شپه شپه کډه وکاندې درومې. سيني ئې په شپه شپه ځنې تار په تار کړل. ما لره ئې په شپه شپه وکښل چې نن شپه د خورمو د لښکره سره راورسی ما د راجا عالم قيد کوې او کوړمې مې بندوي. ما هم نظر په شرم و ننګ وکړ په شپه شپه د لښکره سره لاچی ته راکوز شوم خبر مې واخست دے د کوړمې سره تښتے وۀ خورمو ته لاړ وۀ بيا راپسې راغے پټ ورغے د لاچی په غرۀ کښې کښيناست هسې څائے ناست وۀ چې هغه فوځ مونږ ليدۀ دے مو نۀ ليدۀ. وخت د سبا شۀ د هغه فوځ سردار ته به ئې سړے ورستاوۀ چې زۀ څۀ کړم فلانه دغه دے د لښکره سره راغے کۀ ماته څۀ راکړے زۀ به دا لښکر وجارباسم مونږ ته به ئې اشارتونه کول چې هلئ (۱) پرې ورځئ. فوځ د راجه رپوهيد چې دۀ راباندې شندې وکړے. دې ما سره عالم هم لږ وۀ اما هغه فوځ مې له مخې روان شۀ. يو کروه مفاصله وه د لاچی ورانه قلعه وه په هغه ننوت. زمونږ هم څۀ نور مقصد ورسره نۀ وۀ هاله دے له غرۀ راکوز شۀ زمونږ سره شامل شۀ. ډېر ملامت ورته وشۀ. ورغلو د تودې چينې د درملکو مو وغورزندې ته وليږدول (۲) عابد خان راځخه خورمو ته لاړ مونږ ئې په غورزندې کښې پرېښو شپه مو وکړه يو عبدالرحمٰن او حکيم خان ملا عثمان رستم خان د بنادې خان شمشير ډنګرزے صالح محمد حسن خيل دا څو سوارۀ راسره وو کډې د درملکو تر مونږه ډپاسه وے. مونږ و لاچی ته په څيلمه وو په شپه درملک ورغلل د راجه رام سنګهه عالمو ته ئې ووئيل چې يو فلانه د پنځوسو سوروسره ناست دے کۀ تاسو سوارې وکانئ دے به پاځوۀ کډه به مونږ ورځنې راوجارباسو. څاښت وخت چې د راجا لښکر راباندې راغے زمونږ جاسوس نۀ وۀ.. بې خبره راباندې راغے چې فوځ وليد شۀ اسونه مو تيار وو وسلې مو واخستے

سوارهٔ شو د قاسمي شاهي خيل وارخطا شهٔ په اسپه نهٔ شهٔ سوريدے په هغه ځائے ومړ. په مونږ پسې يو سور له فوځه راپيل شهٔ پېر مې پريې وکړ شمشير په توره وواههٔ توره ئې پرې ماته شوه وتښتي په فوځ ورننه وت د دې نورو رسد پسې ونهٔ شهٔ[۲۱۷] د فوځ د وړاندې روان شهٔ نور چا مبادرت راپسې نهٔ کاوهٔ ورغلو په چختو د سيني د خورمو په کده (۱) کښې مې واړول. څو شپې هغه ځائے ليرې شوے. عابد خان د کوره سره د ساغريو لښکر وته لاړ. زهٔ شيشم ته د آتش مستي خيل کره لاړم وخت د حادثې وهٔ. هغه ملک هم په خلل کښې شهٔ. بې خرڅي هم بيښه شوې وه. آتش په فرموده د خان چې ما ورسره بدې کړې وه لکه پخوا ئې مذکور تير شهٔ اما په سبب د خان جنت نښان چې د دهٔ سره ئې احسانونه کړي وو او ما هم پس له هغې تنبيه په دهٔ باندې شفقت د مهرباني کړے وهٔ ښهٔ خدمت ئې وکړ. هغه ځل د شيشم د لارې خرڅ هم په لاس کښيووت. د منخلي په غاښي يوه شپه د نرې په خوړ مو وشوه. نور څوترې ته لاړم. په کرک مې دوه شپې وشوے. د نصرتيو نه مې قلنګ واخست. ترېو هم کور په کور مهماني راکړه. دلې په سرائے کښې يو څو خام طمع کوته انديش چې خان عليين مکان ته به ئې وئيل چې بهرام پياز وهٔ اوس پوخ شهٔ. دے خو هغه پياز وهٔ پوخ شوے نهٔ وهٔ. دوي هم سفله طبيعت په يوه مقصود ورسره شوي وو. بهرام خېل خويونه واخستل. معظم ځوئے ئې بهرام ته په ګوندی ودروه. بهرام هم د دوي په فکر شهٔ. ځوے ئې په قضائے الٰهي فوت شهٔ. عابد خان هم چې د سرائے دا شطرنج د مخالفت وارويد له شکردرې ئې و سرائے ته راواچاوهٔ چې د ما روتې پکښې ګرمه شي. بهرام ئې وليد نور په نظام پور کښې د خان تر څنګه کښيناستيد. د خپلې بد خوئي چې جبلي وه اسپې اسونه به ئې د مهمنديو په غلو کښې خوشې پريښودل. زور زياتے به ئې کړهٔ. هغوئ بهرام ته په فرياد راغلل. بهرام حکم وکړ چې کهٔ بيا درغلل اسونه ئې ژوبل کړئ. کهٔ دے درغے دې هم ژوبل کړئ. ظلم بد څيز دے. آخر اثر ښکاره کا. آسونه ئې د دهٔ په کښت کښې ژوبل کړهٔ. يوه جمع د هلکانو د ځويو نمسيو چې د خان په خدمت کښې وو هغه ئې سره معرکه کړهٔ چې د ما تښتوان ژوبل شوهٔ ننګ مې وکانړ. هغه هلکان د دهٔ په خلهٔ شول. ځوئے ئې ورسره کړ ورغلل د مهمنديو په درمندونو ئې اور ولګاوهٔ. هغه پسې راوړل. د دهٔ ځوئے ترې وتښتيد. طاهر خان په غشي مړ شهٔ. خان خبر شهٔ. ډير تاسف ئې وکړ. دا غزل ئې په مرثيه د طاهر خان ووې غزل دا دے:

ډير مئين په تازه مينه سره تير شي — له هجرانه خوږ ژوندون زهر ګنډير شي

لا يو غم مې تمام نهٔ وي څهٔ نصيب دے — چه ناګاهه نور غمونه راپرځير شي

زهٔ په وير د معظم په غم کښې ډوب وم — خبر نهٔ وم چې طاهر به تيروبير شي

لـکـــه ږیـره د طـاهـر نـوې پـه زنـې | د هر هر ویښتهٔ ئې غم په ما ډیر ډیر شي
خدایـه هسې غم بل مـاته پیدا مهٔ کړې | چه په دهٔ مې طاهر خان له دله هیر شي
"طاهر ومړ پشباب کشي" (۲) دا تاریخ دے | چه به کال د دهٔ د مرګ تړې رابرڅیر شي

نور عابد خان لـه ویرې راوتبن. سرائے لره بهرام ته راغے. لوئے خان له بهرامه ډیر آزار شهٔ. دا غزل ئې ووې. غزل دا دے:

تـاهـنـر د سـرداریٔ نـهٔ زده بهـرامـه | سرداري دې پـه خپـل دور کړه بدنامه
هـم تـمـامې خیـلخانې لـره بـلا شوې | هم خپل خـان لـره بـلا شوې بدفرجامه
طـاهـر تـا د کـم عـقـلـی پـه جرګو مړ کړ | اوس فـارغ شـوې د طـاهـر لـه انتقامه
تا خپل خان لره[۲۱۸] د مرګ رخنه پیدا کړه | خیـلخـانـه د پـه بدخویٔ کړه بې آرامه
پـه دا هسې بـد خویی بـدبـخـتـه نهٔ ئې | چـه لا نـهٔ ئې د خونـې هـاکې تـر ژامه
مشر وررور دې پـه زندان کړ تهٔ خاني کړے | دا خـانـي دې شـه پـه حاآن پورې حرامه
چـه خـانـی تـه دې هوس د زړهٔ پـه زور کړ | لا خـالـې ده ستـا د زړهٔ انـدیښنـه خـامـه
نـور دې نوم دې مـا د زویـو پـه شمار مشه | د خـوشـحـال خـټـک ویـنا پـه دا تمامه

پـه سـن زر اوهٔ نـوي زهٔ هـم خـان له خوترې وبللم چې په بنادې پور راغلم بهرام عابد خـان بنـادې پـور تـه راستولے وهٔ بهـرام تـه ئې له بنادې پوره وکښل چې فلانه ئې له خوترې رابللے په فلانه تاریخ راغے په تا باندې لښکر کوي. زهٔ راغلم خان مې په نظام پور ولید. کړه مې په سروبې شوه. صبا خپې رخصت شوم سروبې ته ولاړم. بهرام چې په دا خبر شهٔ ملاحظه ئې وشوه لښکر ئې وکړ په توتکې راغے. کادې او بادې چې دم جنبانې کړې وه بهرام ورته په مرګ خیر وهٔ. وپوهیدل چې کهٔ لهٔ دې سفره راوجاروت مونږ به مرهٔ کا. فرصت ئې غنیمت وشـمـارهٔ. یو څو نادانان د قبیلې نور هم ورسره ملهٔ کړل لکه یحیٰی خان صدر خان عجب خان ګـریـز ئـې وکـړ. تر سینده پورې شول. کادې دم جنبانې وکړه خان ئې وغړاوهٔ الله داد خان ته ولاړ(۱). دوئ ئې پـه میـان عیسٰـې کښې کښېنول په ګمان د دې چې الله داد خان نه به فرمان واخلو پورې ملک به بهرام خورې راپورې به مونږ خورو هومره احمقان په دا مهٔ پوهیږه چې مغـل تـه خاطر سائل د بهرام لازم کهٔ د دوئ لازم چې هغه ئې صاحب مدار وهٔ بل بولاق چې د ترې د وینځې د خواب نهٔ دې په هغه څهٔ امید. کتخدایان ئې واړه د بهرام سره په لښکر. بهرام چې د توتکیه راوجاروت (۲) پـه ګاړو(۳) ئـې واړول خـان لـره ئـې د عابد خانه سره معرکه ورستولـه چې په تا مو اعتبار نشې. اوس تهٔ راپاڅه سرائے لورې ته مکان خوښ کړه هغه ځائے اوسه. خان په دا راضي نهٔ وهٔ. هم په دا ګفتګو کښې ئې رد بد عابد خان ته ووئیل (۴). هغه بې

مروته هم چې څۀ پرې وئيل شول. هيڅ صرفه ئې ونکړه حق ئې د پدرى د پسرى هيڅ ونۀ ساتۀ دې ئې وشاړۀ (۵) بهرام بيا معركه د اولس ورستوله د اولس د معركې سره لاچار خان د سرور ميلې ته راغے. بهرام هم چې سرائے ته راغے دا جماعه چې له سرايه تښتې وه په ميان عيسىٰ کښې ناست وو خبر شۀ د شپيه ئې تاخت پرې وکړ. يوه نيمه ګړى د شپې باقي وه چې پرې وخوت. بعضې ئې ونيول هم څنه ترې وتښتل تر يوسفزيو پورې په تصديع ولاړل خفت او بې عزتي نيولي ته ډيره وشوه اما هغه کادي او بادي په لاس کښې نۀ وتل يو په لنګر کوټ وۀ يو غرۀ ته ولاړ. خلاص شۀ نور راغے و سرائے ته عابد خان هم لکه خوئ د دۀ جبلي وۀ ماته به ئې هم خطونه راستول د خان سره ئې هم کړۀ د بهرام سره ئې هم کړۀ. بهرام د دۀ په کرتوت خبر شۀ راوئې بالۀ په حويلى کښې ئې ننه ويست. توپچيانو ته ئې حکم وکړ چې په توپکو ئې ولئ. چې توپک ئې ورته کښيښول دے په کوټه ننه ووت. کوټه ئې پرې د پاسه لوريه سورى کړۀ په لوټو په کانو ئې ډير وويشت نور ئې په قيد کړ. بيا حسن خيل ضامن شول خلاص ئې کړ.[۹ ۱ ۴] و تښ څوټرې ته ولاړ. نور بهرام مکرم خان خوئے (۱) په خان باندې تعين کړ چې خولانې يوسه خان په قيد کړه. خان هم دا فوځ وليد چې راغے. يو ګوهر خان نصرت خان ورسره وو نور ئې توپک واخستل د غرۀ اړخې ته شول. ژغ ئې پرې وکړ چې هر څوک چې مردان ياستئ تورې ته رائيشې. د خان ادب په هر چا غالب وۀ. اګرچې کۀ هغه بدبخت دا وئيلې هم وو د چا د لاسه نۀ کيدۀ. د سينيو کتخدايان تر مينځ شول. خان ئې د حصار لنګ و مينې ته بوتۀ. د بهرام خوئے بيا د فوځه سره پلار ته راغے. پلار پرې ډيره غصه وکړه چې ولې مو هسې پريښې. بيا ئې د لښکره سره پرې ورستاوۀ. خان ګوهر خان هم د ما په لور رخصت کړے وۀ. زۀ په هغه آوان د افريديو په بوړيو کښې وم. دے تنها ناست وۀ. لښکر پرې ورغے عالم به په حکم د بهرام له ديه ورغے هور ته به ئې خان وليد زړۀ به ئې کړے نشۀ چې لاس ئې د بدى اوږد کړے وے. توره ئې وکښلې وه ناست وۀ. يو نيم حيض حرامزاده چې مفسد وۀ وخت ئې موندلے وۀ رد بد (۲) به ئې وے نور ځائے په ځائے لښکر ورته ډيره شۀ. څوکې ورته ناستې وے چې کۀ دے غافل شي نور به ئې نيسو. خان باندې وخت د پيرى وۀ. په درې کم اتيا کاله عمر د دۀ راغلے وۀ چې وخت به د نمانځه شۀ د دې لښکر عالمو ته به ئې ژغ وکړ چې اے نا اهلانو هومره فرصت خو را کانئ چې زۀ اودس نمونځ وکړم. غرض دا چې نهايت تنګي ورپيښه شوه. سبحان الله په دا دنيا کښې دا هسې کارونه هم کيږي هغه يزيد چې به په امام حسينؓ کړ. د دنيا مقصودونه به ئې هم څۀ په نظر کښې وو. دا هسې پلار چې په خوانى کښې ئې کړے حکومت و فرزندانو ته ئې پريښې په ځان ئې نۀ کاوۀ. هومره

شفقت او مهرباني او تربيت ئې د فرزندانو د هريک کاوهٔ. په دا وخت د پيرانه سالی کښې د هغو خپلو عالمو د لاسه چې دے به پرې ناست نازيدهٔ څهٔ چارې پرې وشوے. دا څو بيته چې خان د زمانې د خلقو شکايت وئيلے دے وکښل شول. ابيات....

د هر چا سره چې يو نفس قرين شوم
د هغهٔ د خويه بويه په زړهٔ خوړين شوم

زړهٔ مې خوږ په هيچا نهٔ شهٔ په عالم کښې
د عالمه سره زيست کړم په ډير غم کښې

چه د سود له مخه څوک راسره يار شهٔ
چه ئې خپل مقصود پوره شهٔ نو ويزار شهٔ

چه ئې مخ په مخ له تا سره وفا وي
په قفا درسره خير په صل جفا وي

چه ئې بنهٔ کنہے هغه درسره بد شي
تل له تا سره په رخه په حسد شي

هر چې تا سره ياري کا نهٔ ياران دي
همکي واړه لړم دي يا ماران دي

خويه واړه د زړهٔ رنځ د خپل بابا دي
لونه کل واړه ژوري د ماما دي

کهٔ د يار دے کهٔ د خويش دے کهٔ د ورور دے
د خپل خان دے د خپل سود دے د خپل کور دے

تش د خولې لباس مباس دے سره کيږي
د هر چا خاطر خپل سود وته پر کيږي

د راحت په وخت صل لافې د ياری کا
د محنت ساعت چې راشي ويزاری کا

شاهجهان بادشاه څهٔ لږ نهٔ وو نمانځلي
چه په بند شهٔ همکي وو ځني تللي

هئ توبه[۴۲۰] له دې عالمه تښې تښې
په صحرا کښې يک تنها گرزيدے گوښې

آخر الامر بيا ئې د ځينو معرکه تر ميان کړه دوړانو (۱) لره ئې ورووست. په دا ميان کښې چا نيک خواهانو ورته عرض وکړ چې بهرام امير خان ته کښلي دي چې دے ما دستگير کړے دے څوک راستوه چې در ئې کړم. څو ورځې په دوړانو کښې په طريق د قيد ناست وهٔ. يوه شپه ئې فرصت غنيمت وشمارهٔ. په دا پيرانه سالی کښې په هغه شپه چې شل ديرش کروهه توتکے مفاصله لري په دا هسې غابنيو په دا هسې غرونو ورسيد. زهٔ خبر شوم له بوړيو نه د توتکي ته راغلم مخې ته و مې ليد. دلجوئ مې وکړه. زهٔ بيا بوړيو ته راغلم. دے مې په مصلحت د زيرې تـه د درشخيلو کلي ته رخصت کړ. گوهر خان صدر خان يو څو ضامن ئې نور هم چې د ما سره وو ورسره ولاړل. څو ورځې په دا مقدمه تيرې شوے نور زهٔ له بوړيو و يوسفزيو ته راغلم دے هغه ځائے وهٔ. بهرام له سرايه تاخت پرې وکړ خان ئې په لاس رانغے د افريديو غريبې (۲) تـه ولاړ. دوه رفقا ئې په لاس کښيوتل ومړل. په دا قسم دوه درې خله تاختونه ئې پرې وکړل نور راغے د افريديو په ډنبره کښې ئې ځائے ونيو. زهٔ چې يوسفزيو ته لاړم يحيٰي خان عجب خان صدر خان چې قادر او باز شيطاني کړې وه له بهرامه ئې بد راه کړي له ځانه سره ئې يوسفزيو ته بيولي وو. (۳) دا دواړه شرمنده ورسره دوئ ئې هم رالره

راوستل. (۴) ما نظر د دوئ هغو بدیو ته ونهٔ کړ. دلاسا مې کړهٔ. مصرع...

کہ خوئے بدش دشمنے درقفااست

یحیٰي خان عجب خان چې په حادثه کښې بې صبره وو راغښې جدا شول. دوئ دواړه ورونه په خپل شامت چې بهرام کشتني کړي وو له ملاحظې ئې پرې ویسا نهٔ کړه. راسره پاتو شول درې میاشتې مې تیرې شوے. امیر خان خلق تر مینځه کړل. وئې بللم هغه کال امیر خان د شنواري مهم درپیش کړے وهٔ چې د مهمندو مهم ئې کاوهٔ. ډکه ئې و شنواري ته ور کړې وه. لکه پخوا ئې مذکور تیر شهٔ. په دا سبب مهمند له شنواریو آزرده شوي وو او د امیر خان مطلب هم دا وهٔ. لکه د پښتنو متل دے یوه خورم بله پخوم. د ډکې په ورکړه په اخستل ئې دوئ یو خپله جدا کړهٔ. زور ئې کم شهٔ. مغلي فوځونه آفریدي ورکزي اولسونه ئې پرې تعین کړهٔ. جنګونه ئې وکړل اما په هر جنګ شنواري برے وکړ د پښتنو اولسونو هم تهیدل ورسره ئې بدي کړې وه. د مغل زر ئې خوړل. په طریق د سپاهي ورسره وو. آخر امیر خان وپوهید چې دا کار نهٔ تر سره کیږي. صلح ئې د وراندې کړه. فتح خان شنو ارے ورلره راغے مهم موقوف شهٔ. په سن زر اتهٔ نوي زهٔ هم ورغلم. په جلال آباد کښې مې د امیر خان ملازمت وکړ. هغه کال ورسره لاړم کابل ته. زما د منصب تجویز ئې وکړ بادشاه ته ئې واستوهٔ. څهٔ زر ئې هم زما په طریق د مدد خرځ مقرر کړهٔ او هر چې راسره څهٔ سوارهٔ وو د هغوي ئې علوفه وکړه چې جلال آباد لره راغلو د خان د فوت خبر راغے. دا مرثیه ئې خان جنت نښان وئیلې ده. مرثیه د خان......

همه غم لره موجوده دا دنیا ده
په حصه (۵) ئې تل ژړا کمه خندا ده

نه نه خائے د خندا نه غلط مې ووې
بلکه دا همه ژړا لره پیدا ده

د امان لورے به چرته وي عالمه
دلې واړه د مرګي شور و غوغا ده

د صفي [۴۲۱] اولاد رمه دے ئې لیوهٔ شهٔ (۱)
دم په دم ئې څکه خوري چې ئې غزا ده

خوب به څهٔ رنګ په حیات کاندې بې غمه
په هر زرهٔ چې رقم ویره د موتا ده

ما ونهٔ لید هسې زرهٔ په زمانه کښې
چه ئې نهٔ موت په سر ایښے عنا ده

نه نه دا عنا خاصه په انسان نهٔ ده
په دا داغ اینه اخته د هر اشیا ده

دما زرهٔ څهٔ ګواهي نهٔ لي په دروغه
په دا قول ئې راکړې نن فتوا ده

څهٔ ئې وې؟ په وئیل غوږ باسه زیرکه
چه خبر لي په ما کهٔ واقعه دا ده

یعنې نن هغه امام د ننګیالو
په ډنبره غریب ولاړ ډکه ئې خوا ده

مسافر شهٔ هغه شیر د جبالونو
چه زهره څنې اوبهٔ د اورنګ شاه ده

نه ئې خویه پرې حاضر نه برادر وه   ساه ئې قبضه له غمونو په صحرا ده
نه ئې مخ په ستر گو ولیده د خپلو   نه ئې کړې چا په رنځ کښې دلاسا ده
یا ئې رب په حال خبر یا زه پوهیږم   چه له خپلو ئې لیدلې څه جفا ده
د جبال غرڅه ئې ژاړې په زاریو   د سرپو باندې هائې نه ئې صدا ده
مرور له خلقو لاړ دے رابه نشي   ستا په باب ئې دعا کړې د بدا ده
له په مخ د زمکې گرزے کوم ادب دے   چه تنه د صاحب لاندې تر غبرا ده
ونې غرونه ئې د حال په ژبه ژاړي   ته بې غمه خوب کوے دا دې وفا ده
ما وې څه بیهوده شور کوے باطله   دا قصه چې ته کوے کله صلا ده
له حیا به تن د خان خوړلے نه شي   په دا خوئ کۀ هر څو مزکه بې حیا ده
وې ئې ته کۀ خبر نۀ ئې زۀ دې څۀ کړم   دا قیصه (۲) په دکن هر چر ته رسوا ده
راته ښۀ وائے کۀ بد رضا دې خپله   پاکه ویره دې په گور کښې (۳) د بابا ده
په ښۀ مخ به ئې بیا ستر گې جلا نشي (۴)   د دیدن طمع براته په اُخرا ده
ما وې هوش ئې له ما واړه ربوده کړ   چې د غم قصه دې بیا کړله بنیاده
هومره مه تللے مرور د زمانیو   چې دا سخته حادثه پرته پر ما ده
وې ئې لاس د قضا وڅکاوه بې وسه   ستا مشکله مې سپارلے په الله ده
ما وې وایه حقیقت له هغه ملکه   چه دا سخته حادثه پکښې برپا ده
وې ئې څه پوښتنه کړے له هغه ملکه   چه جشه ئې تشه توره له اروا ده
د ختکو عزت هاله چې دے روغ وه   حیاتي ئې پس له دۀ باد و هوا ده
نظام پور په ژړا ما ته کړے ماني   له هوډیانو ئې پرې کړې تمنا ده
د مجلس زمکه هغه مهر ئې ولاړ وه   په ارمان ئې آلوده هره گیاه ده
یو خل ورشه د مجلس کوټه ئې گوره   چه له غمه خرنگ تویه په بنا ده
خوړې مخ په وهل واړه شخوده کړ   زیړه(۵) زیړه په دا غم لکه صفرا ده
دبدبه د حرمت ماته شوه د توررو (۶)   د عزت ږیره خرئیلې د لوا(۷) ده
میر کلان کۀ ئې اختتر په ماتم نه دے   سکه په څۀ ئې پوشیده توره قبا ده
هغه غر چې ئې له اسمه غضنفر وه   تر کیدړ ئې نن نامه بتره لا ده
غشي خط د ویزارۍ لیندې ته ور کړ   لینده لا ولیږے له وصله مبرا ده
ډال روغن له تاوه ویلې په تنه کړ   مبرا د شرمه توره له بریښنا ده
د خوبي معدن چې تا لیدۀ خاطره   په صحرا ئې د عزت خونه تنها ده

هغه واف چې درفشان وۀ په وګړي
نن ئې ګونګه په لحد ژبه ګويا ده

چې چراغ د هنر مزکې پوشيده کړ
کۀ ئې زۀ په ژړا ډوبه کړم سزا ده

په حرمت د محمد ﷺ واحده خدايه
چې پايه ئې په مرسلوٌ کښې[۴۲۲] والا ده

په عزت د هغو پاکو لا شريکه
چې پرې تيره څۀ بلا په کربلا ده

په وقار د هغو خاصو کردګاره
چې ئې ستا په در قبوله تل دعا ده

کار ئې مۀ سپاره په عدل ځکې ځکې
حواله د قبله چار په کرم ستا ده

کۀ هر څو ئې خطا ډيره غم ئې نشته
چې خطا ئې حواله ستا په عطا ده

په شفا ئې د کرم ښاد و خرم کړه
خوږ سينه ئې په سل داغه مبتلا ده

د زړۀ جوش به تمام نۀ شي په وئيلو
طولاني قصيده تم په دا وينا ده

نور به ستر ګي په مخ وا د ښادی نۀ کا
کۀ په تا د هجري مينه په ربتيا ده

تذکره د پښتنو اولیاء (۱)

فهرست د هغو بزرگانو چې له اولاده د سړبني وو دا دي: اول قطب الدین اوشي، شیخ اسماعیل سړبني، خواجه یحییٰ بختیار بائي، شیخ علي، شیخ سیداني، شیخ میر شیراني، شیخ وتو شوریاني، ابو سعید شوریاني، شیخ بستان بړیڅ، شیخ متهه کانسي، شاه محمود جلواني مجذوب، شاه عبدالرحمٰن بختیار، شاه اباًبکر بختیار، شاه گدا ولد شاه ابابکر، شیخ حامد ولد شاه گدا بختیار، شیخ شهاب بختیار، شیخ ثابت بړیڅ، شیخ الیاس بړیڅ، شیخ مانکي شهباز بړیڅ، شیخ متي خلیل، شیخ عارف بن اودل، شیخ حسن کانسي، شیخ کروچوپان سړبني، شیخ بهدین بختیار، شاه بختیار، شیخ ملکیار پران خرسین، شیخ قاسم خلیل، شیخ حسین/حسن بختیار. اول قطب الاقطاب د فلک هدایت او مهر منیر د آسمان حقیقت او مظهر د تجلیات الٰهي او منبع د خوارق نامتناهي یعني قطب الدین بختیار کاکي قدس الله روحه او نوم ئې د پلار احمد بن موسیٰ وه او ساکن د اوش وه چې له توابع د بغداد(۲) دے او تولد د دې دوست د خدائ تعالیٰ په سن د پونصو پینځهٔ اویا (۳) وهٔ. او پلار د دهٔ متعبد او متورع او صائم الدهر او قائم اللیل وهٔ. هرگاه چې شیخ د یو نیم کال شهٔ پلار ئې و دار بقا ته رحلت وکړ مور د دهٔ التجا و همسایه ته یوړه چې له مدته ئې له پلاره د دهٔ صدق مودت او اتحاد او اخلاص حمیمي وهٔ چې شیخ په مکتب د تعلیم کښینوي. هغه مرد سعادت خپل وگانهٔ په سبب د قدیم حقونو او اشنایي لاس ئې د دهٔ ونیو او روان شهٔ. په میان د لارې یو پیر په مخه ورغے پښتنه ئې ترې وکړه چې دا هلک چرته بیائے؟ وې وئیل چې په فلانه معلم ئې سپارم. هغه پیر نوراني ووې اے خوانه، تصدیعه مهٔ کوه دا طفل و ماته وسپاره چې زهٔ ئې په هسې استاد وسپارم چې فضیلت د دوارو جهانونو حاصل کا. هغه مرد لاس د دهٔ په لاس د هغه پیر کښیښو. پیر تر لاسه ونیو او په ملازمت ئې د مخدوم ابو الحفیظ چې هغه وخت کښې غوث وهٔ ورروست او وې وئیل یا مخدوم دا کودک یو له خاصانو د خدائ دے هغه علم چې مناسب وي ورته ئې وښیه. مخدوم قبول کړ. قرآن مجید ئې په غیږ کښې ورکړ پس له هغه ئې پوښتنه ترې وکړه چې هغه پیر چې دې تا لاس نیولے وهٔ څوک وهٔ؟ وې وئیل والله اعلم مخدوم وفرمائیل چې حضرت خواجه خضرؑ وهٔ. پس په لږ مدت کښې په طفیل د حضرت خضرؑ او مخدوم ابو الحفیظ ظاهري او باطني علم ئې [۴۲۳] حاصل شهٔ. او طلب الٰهي ئې دامن گیر شهٔ او په عبادت او ریاضت ئې توجه وفرمائیله. باوجود د کودکی په لویو مراتبو ارجمند او سربلند شهٔ. هرگاه چې عمر د دهٔ په پینځهٔ ویشتم کال ورسید حضرت خواجه معین الدین حسن سنجري (۱) و دغه مکان ته تشریف شریف وفرمایهٔ. خواجه قطب الدین

لاس د ارادت پــه لــمـن د هدايت د خواجه مذكور ښخ كړ مريد شهٔ. هر گاه چې معين الدين سـنجري دے په واړه فضيلتونو اراسته وليد اجازت د خلافت ئې ورته وفرمايهٔ. د دهٔ باوجود د مشغلې د علم او د ذكر او د فكر دوه صوه ركعته نفل او درې زره درود وظيفه وه. هر گاه چې طـلـب د حق مـخ د دهٔ پـه زيادتي كړ اراده ئې د بغداد وشوه والدې د دهٔ له اوريدو د دې خبر خواه ناخواه مطابق د سنت نبوي ﷺ و دهٔ ته وادهٔ وكړ. په اول درې شپو كښې په ادا كول د حقـوق او پـه حاصلول د لذت مشروعه وظيفه ترې تركه شوه. نقل دے چې سردار د قصبې د اوش ډير بزرگ وهٔ په خوب ئې وليدل چې بلند محل دے او ډير خلائق چارچاپيره ترې جمع دي او مـرد كوتاه قد دے محل ته ننوځي او راوځي رئيس له يوهٔ شخصه سوال وكړ چې په دې مـحـل كـښـې څوک دي او دا مرد چې پيغام وړې راوړي څهٔ نومې؟ ورته ئې ووئيل دا محل د مـحـمـد ﷺ دے او دا مـرد عبدالله بن مسعودؓ له اصحابوؓ د حضرت دے. رئيس وړاندې شهٔ چې اراده د ديـدار د خـلاصـه د رسـولانـو لـرم. عبدالله ننـه ووت بيا راووت او وې وئيل چې حـضـرت ﷺ فـرمـائيلي دي چې تهٔ هنوز اهليت او قابليت د ديدار نهٔ لرے اما په قطب الدين دې مـا سـلام ووايـه او ورتـه ووايـه چې درې شپې وشـوې چې په تحفه دې تا درود و ماته نهٔ رارسـي. هـغـه سـردار عـلـي الصباح چې په ملازمت د خواجه مشرف شهٔ او پيغام ئې د محمد مـصـطفي ﷺ ورته ووايهٔ خواجه معلوم كړل چې مانع د دې وظيفې كدخدائي ده هغه زمان ئې مهر د منكوحه ادا كړ نور ئې له خانه جدا كړه پس له هغه په رخصت د والدې و بغداد ته روان شـهٔ او اكـثـر شـيـخـان ئـې د هـغـه وخت وليدل خصوصاً فائده ئې ډيره له صحبته د شيخ شهاب الـدين عمر سهروردي (۲) او شـيـخ اوحـد الـدين كرماني او شيخ جلال الدين تبريزي (۲ الف) حـاصله كړه. پس له هغه په رفاقت د شيخ جلال الدين متوجه د هندوستان شهٔ. په ملتان كـښې ئې له غوث العالم شيخ بهاؤالدين زكريا (۳) مـلاقات وشهٔ په هغو ورځو كښې خواجه تركمان حـاكـم د ملتان وهٔ او مخدوم شيخ فريد په دا شپو ورځو كښې په تحصيل د علم مشغول وهٔ په مـلازمت د خواجه راغـے او په سلسلې د خواجه د ارادې داخل شهٔ. شيخ جلال الدين متوجه د غزنې شهٔ او خواجه و هندوستان ته راغـے. سلطان شـمـس الدين بادشاه د دهلي وهٔ. په اوريدو د دې خبر په استقبال د خواجه راغـے او په اعزاز او په اكرام ئې و ښهر ته بوت او په سبب د اوبو د كـمي شيخ په موضع د كيلو كهري (۴) كـښـې سـكـونـت اختيار كړ. هر گاه چې شيخ جمال الـدين محمد نظامي چې شيخ الاسلام وهٔ له دار فنا رحلت وفرمايهٔ سلطان شمس الدين تكليف د شـيـخ الاسلامي و خواجه وكړ خو دا خطاب ئې قبول نهٔ كړ او اكثر اوقات په صحبت د شيخ حميد الدين ناگوري او شيخ بدرالدين غزنوي ورتهٔ او هم [۴۲۴] په دا ورځو كښې ئې حفظ

د قرآن وکړ او دوه ختمونه ئي د قرآن روزمره مقرر کړۀ. بيا په طريق د سنت وادۀ ئي وکړ. دوه فرزندان توامان يعني غبرګوني ئي پيدا شول يو شيخ احمد دويم شيخ محمد. نقل دے چې يو له دواړو فرزندانو ئي فوت شۀ. کورمې ئي پس له دفنه ژړا او زاري آغازه کړه هرګاه چې شيخ ته اواز د ژړا ورسيد پوښتنه ئي وکړه چې دا څۀ ژړا ده؟ يارانو ورته ووې خواجه په استغراق کښې وۀ لکه څوک چې له خوبه ويښ شي لاس ئي يو د بله ومښل. يارانو ته ئي ووې زۀ له مرګه د دې فرزند اوس خبر شوم. وايم چې ولې مې ئي ژوندون له خدايه ونۀ غوښت. او کۀ غوښتے مې وے اميد وۀ چې راکړے ئي وے: تحير د مريدانو زيات شۀ. سبحان الله استغراق د خواجه په دا مرتبه وۀ چې له بيمارۍ د خپل فرزند خبر نۀ وۀ. او هم په خورد سالي په رحمت د حق واصل شول. نقل دے چې پس د اختر له نمانځۀ د صوفيانو سره په يوۀ ځائے چې اوس په هغه ځائے مقبره د خواجه ده تير شۀ. يو زمان هورته متامل شۀ مخصوصان چې ورسره وو التماس ئي وکړ چې خلق منتظر د قدمبوسي دے څۀ وخت تامل دے؟ خواجه وفرمائيل چې له دې زمکې بوئ د زړونو راځي تفحص ئي وکړ څښتن ئي د زمکې طلب کړ په ډيره بهاء ئې هغه زمکه واخسته او دپاره ئي د خپلې مقبرې معينه کړه. نقل دے چې حرم د خواجه په بعضې اوقاتو په بنا ضرور له ارتينې د شرف الدين بقال چې کور ئي ورته نژدې وۀ په واسطه د وجه کفاف به ئي قرض ترې اخست يوه ورځ ارتينې د شرف الدين له کوتاهي د خپله بې ادبه خبره ئي په ژبه تيره شوه کور د حضرت خواجه ترک د قرض اختيار کړ هرګاه چې دا حقيقت و خواجه ته ورسيد اشارت ئي يو طاق ته د کور وکړ بسم الله ئي ووئيل خواجه وفرمائيل چې هره ورځ دپاره د خوراک ګرم کاکونه له دې طاقه اخلې. کوروْنو د خواجه به په قدر د حاجت ګرم کاکونه له هغه طاقه اخستل هم له هغې ورځې لقب د خواجه قطب الدين کاکي شۀ. نقل دے چې يوه ورځ په خانقاه کښې د شيخ علي سنجري چې خوريے د خواجه معين الدين حسن وۀ مجلس د سماع ئي ګرم وۀ او درويشان صاحب حال او صاحب وجد په نغمې د دې بيت په رقص په سماع وو. بيت:

کشتګان خنجر تسليم ـــ هر زمان از غيب جان ديګر است

خواجه ته ډير ذوق ولاړ شۀ او شوق ئي دامنګير شۀ او هم په هغه حال ئي و کور ته يوړ څلور ورځې او څلور شپې محوه وۀ. هرګاه چې وخت به د نمانځۀ راغے تازه اودس به ئي وکړ او نمونځ به ئي ادا کړ بيا به په هغه دم وجد او په هغه ذوق په هغه حال شۀ. پس له هغه په څوارلسم د ربيع الاول سن شپږ سوه درې ديرش وۀ چې په وصال د حق مشرف شۀ. او په موجب د وصيت ئي په محل مذکور کښې مدفون کړ او تر قيامته پورې مرکز او مستقر د

طالبانو د حقیقت شهٔ او خوارق او عجائب چې له خواجه ډېر په ظهور راغلي دي تر اندازې د قلم متجاوز دي ځکه په دا قدر اکتفا وشوه.(۱)

ذکر دویم د هغه قطب العارفین او برهان السالکین او سیمرغ د قاف تجرید او نهنګ د بحر توحید او غواص د دریاب ازلي یعني شیخ اسماعیل سړبني قدس الله سره العزیز چې صاحب د عبادت او ریاضت او مقتدا د خپل وخت وهٔ. او په علم لدني کاشف د اسرار طریقت او د حقیقت وهٔ...... او سفر ئې [۴۲۵] ډېر کړے وهٔ او بزرګان ئې ډېر لیدلي وو او خوارق د عادت ډېر تري ظاهر شوي وو. هرګاه چې له سفره راوجاروت او اصلي وطن ته راغے په ولایت د روه مقتدا د وخت وهٔ اسباب ئې د سفر کښېښې. او په مقام ئې د خواجه خضر مقام ونیوهٔ. (۱) او خلق الله له لري ځایه په خدمت ورته راغلل او خپل حاجتونه ئې غوښتل او مطلبونه ئې موندل. شیخ احمد ولد شیخ موسیٰ په دغه وخت په روه کښې صاحب د تلقین او د ارشاد وهٔ. هرګاه چې له تشریف آوری د شیخ اسماعیل سړبني خبر شهٔ په ډېر شوق و ملازمت ته راغے. پس له ملازمته اتفاق د صحبت او د مجلس په هسې شان پېښ شهٔ لکه حق د صحبت وي او پس له هغه ئې یو د بله مفارقت اختیارولے نهٔ شهٔ او فرمان د خلافت ورته عطا شهٔ. شهرت ئې په څلور طرفه د عالم وشهٔ. او ډېر خلق ئې په خدمت دست بوسی او پابوسی ته راتلهٔ او فائدې ئې اخستے تلهٔ او هره ورځ به پونصو مېږونه دپاره د تلونو راتلونو ذبح کېدل او واړه به پخېدل او خوړل شول او سر او پښې او څرمنې به ئې شپالهٔ (۲) ته کښېښوے. سبا به شپون شپالهٔ ته راغے دا مرهٔ مېږونه به ئې ژوندي بیاموندل او څر ته به ئې روان کړل. دا طریقه چې څو دے ژوندے وهٔ جاري وه. نقل دے له شیخ احمده چې ځوے د موسیٰ وهٔ چې حضرت خواجه خضر علیه السلام فرمائیل چې واړه اولیاء د عصر اراده دي ما د ملاقات لري او زهٔ همیشه آرزو او تمنا د صحبت د شیخ اسماعیل سړبني لرم او میسر نهٔ دے په دا چې هیڅ وخت له حضوره د حق تعالیٰ جدا نهٔ دے. او مقبره د دواړو بزرګانو پاس په سر د کوه سلیمان ده. او لوے ګنبد پرې ولاړ دے.

ذکر دریم هغه دلیل او برهان د واصلین او مهد د سالکین او متجلیٰ په تجلو د ذات او متجلیٰ په کالیو د صفات او معدن د الهام رباني او منبع د انوار یزداني او غرق د بحر وحدت او لامبوزن د دریاب د معرفت او ګنج د حقائق الٰهي او خازن د مخزن نامتناهي او زبده د ابرار یعني خواجه یحیي بختیار قدس الله سره العزیز په وخت د طفولیت ئې روژې د رمضان درلے او هرګز ئې میل دپاره د لوبو د هلکانو نهٔ کړ. هرګاه چې په سن د رشد او تمیز ورسید په غوښتل د پیر مسافر شهٔ. په ملازمت د مخدوم سید جلال بخاري مشرف شهٔ او په خطاب د

خواجه یحییٰ کبیر مخاطب شۀ. (۳) لـه هغه نه په ملازمت د پیر کانون او اکثر مشائخ مشرف شۀ. او عجائب او خوارق د دې بزرګ تر حساب ډیر دي. نقل دے چې هرګاه په خاطر عاطر د دۀ تیر شول چې مرید شي حضرت رسالت پناه ﷺ جمال جهان آرائ په خوب کښې ورته ښکـاره کړ چې دې تـا پیـر مـخدوم جهانیان دے . هرګاه چې له خوبه ویښ شۀ علي الصباح متوجـه د قـصبـې اوجـه شۀ. هرګاه چې هورته ورغے په حضرت مخدوم جهانیان له غیبه الهام وشـۀ چې یـو ښبنتون د فرزندانو د سید اسحاق په خدمت دې تا راځے په غیږ کښې ئې ونیسه کـۀ بـزرګي د دۀ اخستے شے واخله او کۀ بزرګي د خوارلسو خانه واده ؤ چې تا حاصله کړې ده و دۀ ته مرحمت کړے . هرګاه چې مخدوم سر له مراقبې پورته کړ وې لید چې په قصد د دۀ د مـلازمـت راتـۀ مخدوم په غیږ کښې ونیو کۀ هر څو ئې قصد وکړ بزرګي د دۀ ئې اخستے نۀ شـوه وې فـرمـائیـل چـې فرمان د حضرت رب العزت په دا نوع وۀ پس له هغه مخدوم بزرګي [۴۲۶] د خـوارلسـو خـانـه واده ؤ یحییٰ کبیر ته ورکړه او خپل مرید ئې کړ. نقل دے چې په مـوسـم د بـرسات آب د سیند طغیان کړے وۀ چې کورونه ئې د قصبې اوجه غرق کړۀ. خلق د ښهـر جـمـع او پـه خدمت د مخدوم راغلل او عرض ئې د اوبو د طغیان وکړ مخدوم وفرمائیل چې فـلانـه ځـائے ښخنتـه پـرتـه ده رائ ورئ او په غاړه ئې د آب سیند کیږدئ اوبۀ به له هغې ښخنتې وراَلـدې تـیـرې نـۀ شـي. خـلـقو د ښهر په عمل دا کار راوړ. اوبو له هغه ځایه وراندې طـغیـانـې ونـۀ کـړه. انشـاء الله تـر قیـامته به آب سیند ضرر نۀ رسوي. نقل دے چې په وخت د حضـرت مخدوم جهانیان عذر د جراحت لره قیام په ځائے راوړے نۀ شۀ خواجه یحییٰ کبیر ته ئـې امـامـت وفرمایۀ. حضرت خواجه یحییٰ کبیر نیت د نمانځۀ وتاړۀ بیا ئې سلام وجاریوست هـم دا رنګ ئـې څـلـور ځـلـه نیـت وتاړۀ بیا ئې سلام وجاریوست. پنځم ځل ئې نیت وتاړۀ او نـمـونـځ ئې وکړ. پس له نمانځۀ مریدانو د مخدوم جهانیان یو د بله ووې چې وسواسي ښنتانۀ تـه مـخدوم امامت وفرمایۀ. حضرت مخدوم دا حقیقت په نور باطن معلوم کړ و خپلو مریدانو تـه ئـې ووې هغه مراتب چې خواجه یحییٰ کبیر خپل کار په اتمام رسولي دي. نقل دے چې یو وخـت خـواجـه خضر علیه السلام او پیر کانون له خواجه یحییٰ ملاقې شول ورته ئې وفرمائیل چې اے خـواجـه یـحـیـیٰ کبیـره تا وته حق تعالیٰ ډیره بزرګي کرامت کړه خلق د الله تعالیٰ دې مـریـد کړ. خواجه یحییٰ کبیر ووې بنده دا قوت نۀ لري هرګاه چې خواجه خضر او پیر کانون لـه خـواجـه یـحیـیٰ کبیره دا خبره واوریده په غیږ کښې ئې ونیو او وې فرمائیل چې نتیجه بۀ د دې هـمـت بیاموے . پس له څو ورځو په شپه د جمعې په حضور د پیغمبر ﷺ ارواح د دوازو اصـحـابـو د اولیاء الله حاضر وو خواجه خضر او پیر کانون او خواجه یحییٰ کبیر هم په عادت

معهود په هغه مجلس کښې حاضر وو. خواجه خضر عليه السلام او پير کانون په خدمت د حضرت رسالت پناه په عرض ورسول چې يحيې
کبير په وئيل زمونږ و خلقو ته دعوت نهٔ کا. حضرت رسول الله ﷺ وفرمائيل چې خلق الله ته دعوت فرمايه هر څوک چې دې تا لاس ونيسي ګويا لاس ئې دې ما ونيو. پس له هغه ئې خپل مبارک لاس په محاسن د يحيئ کبير وګرزاوهٔ. له هغه ورځې خواجه يحيئ دعوت اختيار کړ مريدان د خواجه اکثر واصل د حق شول. نقل دے چې حسين بيټني مريد د حضرت خواجه يحيئ کبير وهٔ يوه ورځ ئې عرض وکړ چې په ورځ د جمعې پير نهٔ وينم او له سعادته ئې د ملازمت محروم پاتو کيږم. پير په ورځ د جمعې چرته ځې؟ يوه ورځ کهٔ ما هم په خپل خدمت روان کا. خواجه يحيئ کبير وفرمائيل ډير ښهٔ تا به هم بوځم چې نمونځ په مکه کښې يو د بله وکړو. اما په دا شرط چې زهٔ ونهٔ وايم سترګې هسکې نهٔ کړے. هرګاه چې په ورځ د جمعې وخت د نمانځهٔ شهٔ حسين په ملازمت د خواجه راغے خواجه ورته وفرمائيل چې سترګې پټې کړه چې مکې معظمې ته ولاړ شو نمونځ ادا کړو. حسين بيټني سترګې پټې کړے دواړه والوتل. حسين بې فکره سترګې پرانيتې په بيابان د ريګستان پريوت. هم هغه بيابان کښې پاتو شهٔ. خواجه يحيئ کبير ترې تير شهٔ او نمونځ ئې د جمعې له چهل ابدالو سره وګزارهٔ. دوي ترې پوښتنه وکړه چې اے خواجه نن ورروستو راغلے؟ خواجه صورت د واقعې حال ورته بيان کړ. مرادنو د خدائ تعالیٰ ورته ووې اے خواجه يحيئ کبيره زر خه او خبر د خپل مريد واخله. حضرت خواجه يحيئ له دوي رخصت شهٔ په لږ مدت ورته راورسيد. حسين ئې [۴۲۷] وليد چې په هر لور به په بيابان کښې ګرزيدهٔ هرګاه چې پير ئې وليد ډير خورم او خوشحال شهٔ. حضرت خواجه وفرمائيل اے حسينه سترګې پټې کړه په مجرد ئې د سترګو پټولو خپل ځان ئې په مسجد کښې د پير وليد. پس له هغه حسين عرض وکړ چې اے خواجه محنت مې وشکاوهٔ او مکه مې ونهٔ ليده. خواجه وفرمائيل اے حسينه آرزو دې د مکې د ليدو په خاطر دے. وې وئيل هو. وې فرمائيل اے حسينه په مسجد وخيژه خواجه حسين تر ليچو ونيوهٔ او پورته ئې کړ او ورته ئې ووې اوس کعبه ګوره. حسين کعبه وليده په پښو د پير پريوتهٔ. نقل دے چې يوه ورځ خواجه يحيئ کبير له مريدانو سره سير کاوهٔ اتفاقاً شپه راغله او هورته نږدې ابادانې نهٔ وه او سارهٔ ډير وو مريدانو لرګي ټول کړل اور ئې پرې بورې کړ او خواجه ګوښے په ګوښه تنها ناست وهٔ او په عبادت مشغول وهٔ. هرګاه چې اور بل شهٔ مريدانو يو د بله ووې چې لوګي زوور وکړ کهٔ غوښې موجودې وے په دا اور به ښې ورتې شينه. دا خبره خواجه واوريده خواجه التماس وکړ په درګاه د پروردګار چې اے الٰهي په خواهش د

دې بنده ګانو ته بنهٔ واقف ئ. ناګاه نیله ګاؤ ښکاره شهٔ. او نژدې اور ته راغے. حضرت خواجه وفرمائیل چې هوس مو د کباب درلهٔ حق تعالیٰ دا نیله ګاؤ دې تاسو په رزق راستوهٔ. مریدانو هغه نیله ګاؤ ونیو او حضرت خواجه په نمانځهٔ مشغول وهٔ هر ګاه چې سلام ئې وجاریوست مزرے ئې په کین لورې ولاړ وهٔ او په لکۍ ئې زمکه جارو کوله او رنګارنګ تملق ئې په ځائے راوړ. خواجه وفرمائیل اے مریدانو غوښې مهٔ خورئ. میلمه راغلے دے حصه د دهٔ هم ورکړئ مریدانو عرض وکړ چې یا خواجه میلمه دې دلته راشي کباب تیار دي. حضرت خواجه مزري ته اشارت وکړ. مزرے هورې ورغے یاران له مزریه وویریدل خواجه وفرمائیل له مزري مهٔ ویریږئ حصه د دهٔ هم سمه ورکړئ. خلقت د حق تعالیٰ دے. یو وررون ئې و مزري ته ورکړ وې خوړ او سلام ئې وکړ روان شهٔ. نقل دے چې یوه ورځ حضرت خواجه یحیيٰ کبیر په مسجد کښې ناست وهٔ مولانا محمود سرمست رباني ترې سوال وکړ چې اے خواجه چرې هم په مراد د خپل زړهٔ رسیدلے ئ. خواجه وفرمائیل هو دوه ځله. یو هر ګاه چې ښهر ته د هرات ورغلم او په مسجد مې قرار ونیو په هغه وخت بیماری په ما غلبه وکړه تر هسې حده چې حرکت مې د لاسو او د پښو پاتو نهٔ شهٔ هر ګاه چې وخت د نمانځهٔ شهٔ موذن و ما ته راغے او ما ته ئې اشارت وکړ چې پاسه نمونځ وکړه ما ورته طاقت نهٔ لرم چې پاځم تهٔ نمونځ ادا کړه. زهٔ به ئې په ملاستې وګزارم موذن سنګدل چې دا خبره واوریده راغے تر پښو ئې ونیولم او وې شکولم سر مې په پاوړ سنګ (۱) برابر شهٔ مات شهٔ او وینې مې له سره روانې شوے. هغه زمان مې خپل ځان و مراد ته رسیدلے ولید او وهٔ مې وے کاشکے کهٔ سر مې زر ځایه مات وے. او بل په بیړی ختلے وم ملاح له مانه مزدوري غوښته ما ورته ووې زهٔ هیڅ نهٔ لرم. هغه ملاح زهٔ څو څپیړې ووهلم او ما ورته خندل ملاح ووې دا مرد شاید دیوانه دے او هومره ئې ووهلم چې بې طاقته شوم هاله یو له بندګانو د خدائ تعالیٰ په هغه کشتی وهٔ مزدوري ئې ورکړه زهٔ ئې له ملاحه خلاص کړم. نقل دے چې یوه ورځ خواجه یحیيٰ کبیر له څو مریدانو سره په بیړی وخوت ملاح ترې وغوښته هیڅ یوهٔ څخه څهٔ نهٔ وو چې ملاح ته ئې ورکړے وے. ملاح بې مروت شیخ یو څو لرګي ووههٔ. شیخ ورته هیڅ ونهٔ وئیل او مریدانو ته ئې هم هیڅ ونهٔ وے.[۴۲۸] او وې وئیل چې حق په جانب د ملاح دے. ناګاه ماهي سر له دریابه پورته کړ او وې وئیل مزدوري له مانه د درویشانو واخله ملاح نظر و ماهي ته وکړهٔ پینځهٔ دیناره ئې په خلهٔ کښې د ماهي ولیدهٔ. لاس ئې د حرص ور دراز کړ وائ خستل لاس ئې وچ شهٔ. ملاح زارې وکړه او تر پښو ئې پریوت. خواجه وفرمائیل مزدوري دې تا یو دینار دے باقي خزانه د پروردګار ده څلور دیناره ئې و سیند ته واچول او په زاری د ملاح ئې ترحم

وفرمايۀ. دعا ئې وکړه لاس ئې جوړ شۀ. والله اعلم بالصواب. نقل دے چې موسم د گرمی حضرت خواجه يحيیٰ کبير پاس په غرۀ ورغے هورته ئې رونق د سايه دارو ونو وليد. هغه ځائے ئې خوښ شۀ. مريدانو ته ئې ووې دا ځائے د خلوت دے شو ورځې دلته تيرې کړے بويه. مريدانو عرض وکړ چې يا شيخ دلته اوبۀ نشته اما وچ رود شته. هرگاه چې وخت د نمانځۀ روا شۀ کانړے ئې په مسواک وواهۀ په هغۀ ځائے چينه د خوږو اوبو جاري شوه. وائي چې تراوسه په هغه غرۀ کښې هغه چينه جاري ده. او هغه ځائے ته مقام د گوښې وائي. نقل دے چې په وخت د خواجه يحيیٰ کبير به ئې ذکر په جهر کاوۀ زړۀ ئې له سينې ولويدۀ. خادمانو ته ئې وفرمائيل چې دا شکسته زړۀ په سپينه شپره کښې ونغاړئ هرگاه چې ومرم راسره ئې ښخ کړئ. مريدانو په موجب د حکم هغه رنگ په عمل راوړ. نقل دے چې امير تيمور صاحبقران په هغه طرف لښکر روان کړ. هر ځائے چې به ئې د ښځالۀ واوريدل تاراج او بند به ئې کړل. اکثر قبيلې پاس و غرۀ ته وختلے. هرگاه چې لښکر د امير تيمور نژدې د کوه سليمان ته راغے حضرت خواجه يحيیٰ کبير له خپلو توابعو لواحق سره په خوا د غرۀ کښې وۀ مريدانو عرض وکړ چې يا شيخ امير تيمور نژدې راغے مبادا چې کښيوزو. حضرت خواجه څخو خاورې واخستے درې ځله ئې قل هو الله ولوست او په لور ئې د لښکر وغورزولے په فرمان د حق تعالیٰ په ميان د لښکر او د دې جماعت حجاب پيدا شۀ. وارۀ مغل گويا ړاندۀ شول. اواز ئې د سريو واوريدۀ اما هيڅ ئې نۀ ليدل. لښکر په تعجب شۀ او دا حقيقت ئې په عرض د امير تيمور ورساوۀ وې وئيل شايد په دا غرۀ کښې اولياء الله شته. زر له دې ځايه وجاروځئ. لږ چې پسته وجاروتل سترگې د مغلو بينا شوے امير تيمور وفرمائيل چې له چا تحقيق وکړئ چې دا ځائے مسکن د کوم بزرگ دے. ملازمانو د تيمور يو پښتون ونيو او تيمور ته ئې حاضر کړ دغه مرد تمام حقيقت د حضرت خواجه په عرض ورساوۀ پس له هغه امير تيمور يو اس او څۀ زر په خدمت د خواجه واستول اما خواجه قبول نۀ کړ او وې فرمائيل چې دعا دې ما پرې ووايه او ورته ووايه چې مسلمانان مۀ ازاروه او له خدايه په ويره اوسه چې سخت نيول د ظالمانو په دواړه داره دي. نقل دے چې حضرت شيخ شرف الدين يحيیٰ منيري(١) له هندوستانه په لور د حضرت خواجه يحيیٰ کبير کتابت وکيښ او پکښې مرقوم وو چې دلته اوريدل شي چې دې تا په مجلس کښې طائفه د درويشانو رقص او سماع کا. او ارتينې په هغه وخت حاضرېږي اگر چې په سماع کښې اختلاف دے اما په اختلاط د ارتينو اتفاق دے چې جواز نۀ لري پس منع وفرمايه چې دا امر په مثال د ښېې او د اور اگر چې تاسو ته باک له اوره نشته[٤٢٩] ليکن مبادا چې په محرمانو پورې شي. حضرت خواجه يحيیٰ کبير پس له هغه اگر چې په

وخت د سماع به حاضر شۀ اما رقص ئې نۀ کاوۀ او ارتينې ئې له حاضرېدلو منع کړے. او په خواب کښې ئې د شيخ د خط وکښل چې تحقيق هغه ورور شيخ شرف الدين يحييٰ منيري کښلي دي اما حق تعالىٰ په هرې چارې قادر دے پس له هغه ئې لونبے مهر کړے وۀ قاصد ته ئې ورکړ چې دا تحفه دې ما ورور شرف الدين ته يوسه حضرت شرف الدين چې خلۀ د لونبې بـازتـه کـړه بـنـبـه او اور ئـې يو ځائے ولېد. بنبې له اوره هيڅ خطر نۀ وۀ. پس له هغه حضرت شيخ شـرف الـديـن وفرمائيل چې هغه زۀ وپوهېدم مرتبه د خواجه يحييٰ تر هغۀ برتره ده. نقل دے چې يـو وخـت خـواجه يحييٰ کبير له مريدانو سره تۀ شهه راغله تور نوميدۀ يو پښتون وۀ د هـغـۀ پـه قبيـلـه کښـې کـوز شـۀ. او تور دنيا دار وۀ او رمه او مېږونه ئې تر زرو ډېر وو ليکن تور بخيـل او مـمسـک وۀ هيـڅـوک تـرې اسوده نۀ وۀ. تور په ملازمت د حضرت خواجه راغے خواجه ترې پوښتنه د نام وکړه دۀ ځواب وکړ چې نوم دې ما تور دے. حضرت خواجه ته حال مـخ بـڼـکـاره کـړ وې وئـيـل الٰهـي ما تور مۀ کړے، هرګاه چې له هغه حاله په بل حال راغے وې فـرمـائيـل چـې اے تـوره نوم دې تا بل کېږدم. تور بدمطلنه شۀ او وې وئيل اے درويشه هغه نوم چـې مـور پـلار ايښـے دے په وئيل دې تا څۀ رنګ بدل کړم. پس له هغه خواجه ووې چې اے خـوانـه مـريـدان دې مـا اوږې دې څۀ پېرې وخوروه. وې وئيل اے درويشه دا مېږونه مې دې تا ډيـاره سـاتـلې نۀ دي. دا ئې ووې تور کور ته روان شۀ. پس له يوۀ ساعته ورور د تور پسونه له ځـره راوستل او دنيادار نۀ وۀ. شپون والے ئې د تور کاوۀ. هرګاه چې درويشان ئې وليدل چې پـه کـلـي کښـې د تـور کوز شوي دي وپوهيد چې تور اسم بامسميٰ دے ځکه نوم ئې تور دے هـسـې ئـې خـصـلـت تـور دے. مـهـماني به ئې د درويشانو ورکړې نۀ وې په ملازمت د خواجه راغے او لاس پښې ئې کښل کړل. حضرت خواجه ترې پوښتنه وکړه چې نوم دې څۀ دے؟ دۀ ووې نـوم دې مـا دولـت دے. شيـخ وفـرمـائيـل چـې ښـۀ نوم لرے. پس له هغه دولت ووې يا حضرت اووۀ پسونه لرم او اووۀ واړه مې تاته نظر کړۀ. پسونه ئې حاضر کړۀ. حضرت خواجه وفرمائيل اے درويشانو تاسو دا پسونه ذبح کړئ او وې خورئ او له حق تعالىٰ التماس وکړئ چـې دولـت تـه دولـت د تـور ورکا. مريدانو امين ووې پس له يوې هفتې بيا ورتلل د حضرت خـواجـه وهـغـه کـلـي ته وشول. دولت له دولته سره و خواجه ته راغے. خواجه له احوال ترې پـوښـتـنـه وکـړه عـرض ئـې وکړو چې پس له تشريف فرمائيلو د خواجۀ تور ومړ. او ځلور ئې ارتيـنـې وے هـغـه ځـلـور واړه ارتينې راضي شوے ما په نکاح کړے اوس ئې واړه دولت دې ما شۀ. هو ځبره د مردانو ځائے لري. بيت:

مردان خدا خدا نباشند ليکن ز خدا جدا نباشند

نقل دے چې هر ګاه عمر د خواجه يحيیٰ کبير په صل او اووهٔ ويشت کاله ورسيد په دويم تاريخ د صفر سن اتهٔ سوه څلور ديرش وهٔ حضرت خواجه خادمان او مريدان وبلل او وې فرمائيل چې نن شپه مې سرور کائنات ﷺ په خوب وليد او وې فرمائيل چې خواجه يحيي کبيره سبا ورځ د وصال ده او څهل ځائے په صدر الدين چې تا فرزند دے وسپاره. پس له هغه مريدانو عرض وکړ. [۴۳۰] چې تا چرته دفن کړو حضرت خواجه وفرمائيل هر ځائے چې پيزار دې ما والوځي او کوم ځائے پريوځي هغه ځائے وکنئ کالے به راوځي هغه ځائے به ما کيږدئ هغه کالے به دروازه کښې د ګنبد واچوئ هر څوک چې دې ما په طرف راځي اووهٔ ځله دې لاس په دغه کالي ومږي پس له هغه دې فاتحه وکا انشاء الله تعالیٰ د دين دنيا مقصود به ئې پوره شي. پس له هغه ئې تکبير ووې او ځان ئې وسپارهٔ او اکثر خلقو ليدل چې هغه ورځ حيواناتو په صحرا څر نهٔ کاوهٔ. او ناري ئې وهلے. قبر د شيخ په ښهر علي کښې دے. او مکان د دهٔ خالے د سلامت نوم لري. نقل دے چې په اخر وخت ئې دا بيت د شيخ نظامي ګنجوي ووې بيت:

سپردم به تو مايۀ خويش را　　　　تو داني حساب کم و بيش را

ذکر څلورم د شيخ علي نمر د آسمان هدايت او هادي د بيابان ولايت او مجذوب واصل او مقبول کامل يعني شيخ علي. ډير صاحب زهد و رياضت وهٔ او ډير کم ګوشت او لاغر او زار و نزار وه او پښتے د اړخونو له ډير فقر او فاقې وتلې وے په دا سبب ئې دهٔ ته بختيار ثاني وے. او عجب حال ئې درلهٔ او له خواجه يحيیٰ کبير سره ئې اخلاص او مصادقت وهٔ او د خواجه ورور وهٔ. هر څوک چې په وخت د خوراک نوم د دهٔ واخلي له نظره او له آزاره د مچ محفوظ او مصؤن پاتو شي.

ذکر پنځم د شيخ بائي سيد اني هغه معرفت آګاه حقائق دستګاه مخزن د اسرار سبحاني منبع د اطوار يزداني. يعني شيخ بائي سيداني ډير متورع او متعبد او صائم الدهر او قائم الليل وه او سير ئې ډير کړے وهٔ او په صحبت د ډيرو بزرګانو مشرف شوے وهٔ او په علم معاني په کمال رسيدلے وهٔ او پنځه ځامن واړه کامل او مکمل د دهٔ په وجود راغلي وو او له هر يوهٔ نه سلسله ولاړه شوې وه او خود مقتدا د وخت وهٔ او خوارق عادات او کشف و کرامات ترې ډير ظاهر شوي وو. او خلق الله د هغه وخت لاس د ارادې په لمن د دهٔ ښخ کړي وو. او مرادونه ئې موندلي وو. او مناقب او مکارم د دهٔ په قبيله کښې د شيراني ډير شهرت لري.(۱)

ذکر شپږم د هغه رهبر د سالکانو او زبده د عارفانو او هغه مزرے د مرغزار د تجويد او هغه پير د ميدان د تفريد او محبوب د سبحاني يعني شيخ مير شيراني چې ساکن د کاشغر وهٔ او

صاحب د ولایت او تصرف ئې عجائب درلۀ. او خلائق د هغه وخت په استدعا ورته راتۀ او مرادونه ئې موندل. او اولاد ذې د دۀ په مصلې د شیخی استقامت لري.

ذکر اووم هغه غواص د سیند د معرفت او سیاح د صحرا د هدایت او مقبول د درګاه یزداني یعني وتو شوریاني چې خویشکے وۀ او په اول د ځوانی جذبه ئې د الٰهي حاصله شوه او له خپله وطنه ئې سفر اختیار کړ. دیرش کاله ئې لرګي د باورچي خانې راوړۀ او په طلب د پیر کامل روان شۀ او په خدمت د حضرت خواجه مودود چشتي قدس الله سره العزیز مشرف شۀ او خدمت ئې د لرګو اختیار کړے وه. او په دیرش کاله مدت کښې هرګز په شرف د خپل پیر د حضور مشرف نۀ شۀ. او په تمام صدق او اخلاص ئې دا خدمت کاوۀ. هرګاه چې وخت د خواجه د وصال راغے په دا میان کښې فرزندانو او مریدانو په عرض ورسول. چې خاصه کند دې وچا ته مرحمت شي؟ شیخ وفرمائیل د هر کس په قد چې موافق رائیشي. هر څو فرزندانو او خلیفه ګانو واغوست په چا به تنګ په چا به ارت شۀ. پس له هغه حضرت خواجه وفرمائیل وتو پښتون [۱۴۳] راوبولئ. دوي حیران شول چې د کوم فرزند او د کوم خلیفه نوم ئې وتو دے. بیا ئې وفرمائیل چې وتو پښتون چې دیرش کاله دۀ د باورچي خانې خدمت کړے دے او زۀ ئې لیدلے نۀ یم. پس له هغه ئې وتو حاضر کړ. حضرت خواجه پخپله هغه خرقه ورواغوستوله. ګویا درزي د دۀ په قد سازه کړې وه او حکم ئې د ارشاد او د هدایت و دۀ ته عنایت کړ. او وې فرمائیل. چې اوس خپل وطن ته رخصت شه ورځه. و تو پس له دیرشو کالو بیا و خپل وطن ته راغے. نقل دے چې یوه ورځ په مجلس کښې د درویشانو چې واړه صاحب حال وو وتو هم حاضر وۀ پښتنو ووې چې وتو هم خپل ځان ته درویش وائي. کۀ نن ورځ مرغے رائیشي او په اوږو د دۀ کښیني یقین به زمونږ وشي چې وتو درویش دے. پس له یوه ساعته صحرائي کوتره راغله او په اوږه د وتو کښیناسته. د هر چا اعتقاد په حق د وتو زیاتي شۀ. او د شیخ وتو یو فرزند پیدا شۀ. نوم ئې د هغۀ شیخ جیونړ کښیښی. او اولاد د دۀ په مسند د هدایت جلوس لري. دوي ته جیونړ خلمي وائي رحمة الله علیه.

ذکر اتم هغه احسن د عباد الله او سوخته د نور الله او در د دریاب د معرفت او لعل د کان د حقیقت یعني شیخ بستان بړیڅ په ابتدا د ځوانی له روه و هندوستان ته راغے او په قصبه کښې ئې د سامانې سکونت ونیو. او خپل ځان ئې په جامه کښې د سوداګری پټ ساتۀ. په لږ څۀ پنګه ئې سوداګري کوله او حلال سود به ئې په خائے د ضرور خرڅه وۀ او صاحب درد وۀ. او مبارکې سترګې ئې له اوښکیو وچې نۀ وے او هر ساعت به ئې آه درد وکیښ. باوجود د دې درد پښتخلس سپارې ئې هره ورځ ورد وے. او اکثر به ئې شعر د پښتو په هسې نرم آواز چې

کانې ئې په ژړا راوستل لوستهٔ. او په وخت د سحر به ئې اودس تازه کړ او په عبادت به مشغول شهٔ. او پنځهٔ وخته به ئې اودس تازه کوهٔ. مصنف د مخزن افغاني وائي چې زهٔ په سفر د دریاب لاړ وم شب و روز ئې په خدمت کښې رفيق وم. او اکثر خوارق او کرامات ئې ليدهٔ شول. يوه شپه په دریاب د غور طوفان د باد شروع شهٔ.(١) تر هسې حده چې خلقو لاس له ویرې له ځانه پرې ولل. او هر څوک په دعا په زارئ مشغول. هر ګاه چې د فقير په خدمت د دهٔ رابطه د اخلاص ډیره وه په هغه وخت مې عرض په خدمت د شیخ وکړ چې دا وخت د مدد دے . تبسم ئې وکړ او وې وئيل چې خاطر جمع لره. وسواس مهٔ کړه. په مجرد د دې خبرې طوفان کښيناست. او باد د مراد والوت او جهاز له هغه هلاکته خلاص شهٔ. هر ګاه چې مراجعت ئې وفرمايهٔ. و احمد آباد ته راغے (٢) بيماري د اسهال ور ولاړه شوه. يوه ورځ ئې و ما ته وفرمائيل چې وخت د ما آخر شهٔ بائده دي چې په ګور کفن مشغول شے . ما په سر سترګو قبول کړ. پس له هغه په اووم تاريخ د ربيع الثاني په ورځ د جمعې سن زر دوه پس له نمازپښين له محبوب اصلي واصل شهٔ. هر ګاه چې په قبر کښې ئې کښيښن آواز د تلاوت د قرآن مجيد و غوړو ته د ما راورسيد. او ما ليد چې شونډې ئې خوزيدې. په دا واقعه اکثر ياران حاضر وو.

ذکر نهم هغه مظهر د فتوحات غيبي او مصدر د مکاشفات لاريبي او قدوه د عارفانو او برهان د سالکانو يعنې حضرت شيخ متهٔ کانسي له جمله مشائخانو د وخت او مريد د شاه عبدالرحمٰن بختيار وهٔ او ډير تصرف ئې درلهٔ هره ورځ ئې خرڅ کيدهٔ او باورچي خانه ئې هميشه[٢٣٢] ګرمه وه او امرا او خوانين او مسافر او مسکين او کم و بيش د دهٔ په طعام حاضريدل اوجوګيان او سنياسيان او هندوان. آرزو به ئې د هر قسم طعام او بنګ او غيره چې وکړه ورته حاضر وو او مهمان خانه د دهٔ په هسې تکليف ترتيب وه چې دولت مندانو ته ميسره نهٔ وه. تر هسې حده چې ستنې ئې په زربفتو او بخملو کښې انغښتې وے او فرش بې بها پکښې پروت وهٔ غرض هغه څهٔ چې بادشاهانو ته موجود وې واړه آماده او موجود وو . او خوراک د دهٔ يو کندکه ذ اوربشو او لږ کي ساګ په تشو اوبو پاخهٔ پرې پراتهٔ وو او بستر د دهٔ خرمن د لکه شوې وهٔ.(١) او خبنته ئې په ځائے د بالښت وه او خوارق د عادت چې له دهٔ ظاهر شوي دي بيشمار وو. په سن د زر لس ئې له هجرت نبويﷺ امانت د حيات تسليم کړ او فرزندان د دهٔ په مصلې د هدايت ناست دي.

ذکر لسم د هغه عارف رباني او مظهر د انوار سبحاني يعنې شيخ ابو سعيد شورياني چې خويشکے وهٔ او صاحب د عبادت او د رياضت وهٔ او خوارق د عادت ترې ډير ښکاره دي.

نقل دے چې يو دوه کسه له خولينانو نوکرۍ ته لاړ وو او اهل و عيال ئې و خان ته وبلل. هرګاه چې په رخصت به و شيخ ته راغلل شيخ به منع کړل. اخر بې د شيخ د اجازته روان شول په لارې خبر د مرګ د هغه شخص ورته راغے پسته و خپل مکان ته راوجارو تلل.

ذکر يوولسم هغه مهر د آيات رباني او کاشف د اسرار يزداني يعنې شاه محمود مجذوب جلواني په قصبې کښې د اتاوې صاحب حال او صاحب قال وۀ اکثر خلق الله به له لرې او له نژدې په ملازمت ورته راتۀ او مقاصد به ئې موندل او هر چې به ئې په زبان مبارک تير شول هغه به په ظهور راغلل.

ذکر دولسم هغه محرم د اسرار سبحاني او اراسته د درګاه يزداني او برګزيده د درګاه د جبار يعنې شيخ الاسلام شيخ عبدالرحمٰن بختيار ډير بزرګ د خپل وخت وۀ او ښۀ ښۀ خلق ئې مريد شوے وۀ او په تربيت د دۀ و کمال ته رسيدلے وۀ.

ذکر ديارلسم هغه شيخ الاسلام او قدوه د امام يعنې شاه ابابکر بختيار هم له دې ځايه ظاهر دے چې په مثال د ميان مته کانسي قائم الليل او صائم الدهر وۀ او ارادۀ ظاهر د شيخ محمد غوث چې د ګوالير وۀ درلـه او مظهر د فتوحات او د کرامات وۀ او سلسله د دۀ په قصبه د تهاره کښې او مرجع د خلائق ده او دے ورور د شاه عبدالرحمٰن بختيار وۀ. او قدوۀ محققان شيخ شهاب بختيار له دۀ تربيت او نوازش موندلے دے او سلسله د دۀ په قصبه کښې د کيتهل (٢) ده او خلق الله ورځي.

ذکر څوارلسم هغه قطب الانام او زين الاسلام يعنې شاه ګدا ځوے د بختيار ابابکر چې پس له فوته د پلار قائم مقام او صاحب سجاده وۀ او په رياضت او په حقائق د تصوف ډير عظيم الشان وۀ.

ذکر پينځلسم هم هغه مرتاض د هدايت او هغه سياح د بيابان د ولايت يعنې شيخ حامد بختيار چې په سجاده د پلار د نيکۀ مستقيم وۀ او خوارق د عادت ئې بې شمار دي او شيخ حامد ځوے د شاه ګدا بختيار دے.

ذکر شپاړسم هغه منبع د انوار يزداني او معدن الهام رباني او لامبوزن د درياب وحدت او خزانه د حقائق عزت زبده د ابرار يعنې شيخ شهاب بختيار متوطن د قصبې د کيتهل وۀ او هميشه پرسوز و ساز وۀ. او اکثر [٣٣٣] اوقات به ئې لاس غورزول او الله الله به ئې وئيل او په حضور د دۀ به بې له ياده د حق بل مذکور نۀ کيدۀ او په شپه په ورځ کښې به ئې درې ځله غسل کاوۀ يو وخت د سحر او بل په وخت د نمازپښين او بل په خوا تر نمازخفتن او په خپل ژوندون ئې هرګز له دې عادته تجاوز ونۀ کړ او هميشه به دوه خلطې ورځخه وے په يوه

کښې سپارې او لاچې او په بله کښې توري پيسې. هر گاه چې سوالي به سوال وکړ يوه پيسه به ئې ورکړه او نور هر څوک چې به ورته راغلے سپاري او لاچي به ئې ورکړهٔ او هيڅوک ئې محروم نهٔ پرې يښې او دا کار تري نه تر اخره عمره پاتو نهٔ شهٔ. نقل دے چې يو سړي اس گرزاوهٔ دوه کرورې ئې اس په سبب د شوخي وواهلهٔ. هرگاه چې اواز د چابک و غوږو ته د شيخ ورسيدهٔ آه ئې وکړ. حاضرانو د مجلس عرض وکړ چې يا شيخ باعث د دې آه څهٔ دے؟ شيخ قميص له تنه مبارکه ورته کړ نخښې د دواړو کروړو (١) په صورت د دهٔ ښکاره وے. (٢)

[١٢٥٩]

ذکر اوولسم هغه قدوه د سالکانو او زبده د محققانو محرم د راز يزداني سالک د طريق سبحاني واقف په راز پيچ پيچ يعني شيخ ثابت بړيڅ اول ئې په قصبه کښې د بلوټ سکونت درلهٔ په خاطر شريف ئې تير شول چې قوم د بړيڅيو ډير لږ دے گوښه دپاره د استوگې اختيار کړے بويه چې له نورو ښښتنو تصديعه د دې قوم ته ونهٔ رسي دوه تنه ئې له بړيڅيو دپاره د ځائے کتو [١٢٦٠] رخصت کړ پس له تفحص ئې مقام د شوراوک چې اوس وطن د بړيڅيو دے خوښ کړ. او حقيقت ئې و شيخ ته معروض کړ چې شوراوک ډير ښهٔ ځائے دے اما دري عيبه لري اول دا چې اوبهٔ ئې زبوني دي بل دا چې په دې مکان مارونه ډير دي دريم دا چې بلوڅ همه همسايه دي چې په زور قوت هيڅوک تر نظر لاندي نهٔ راوړي. شيخ وفرمائيل چې ماله حق تعالىٰ غوښتلي دي دا درې واړه عيبونه ئې ورک شول. زهر به د مار کارگر نهٔ شي او اوبهٔ به د بړيڅيو ډيرې او پاکيزه وي. او لاس به د بلوڅو په تعدي او له ظلمه کوتاه وي. پس له هغه ئې له بلوټ خانه کوچ وکړ او شوراوک ته راغلل. او قبر د شيخ په غرهٔ د اودل کښې واقع دے او مورد د فتوحات دے. نقل دے چې حاکم د قندهار قزلباش په سر د دې قوم تعين کړ هرگاه چې دري کروهه شوراوک ته لښکر راغلے پښتانهٔ په ډير تشويش او اضطراب و شيخ ته راغلل او حقيقت ئې معروض کړ. شيخ ثابتؒ وفرمائيل چې هيڅ غم مهٔ کړئ. په دا ميان کښې سور[١٢٦١] په تعجيل و سپه سالار ته د لښکر راغلے او فرمان ئې د حاکم ښکاره کړ چې حکم دا رنگ دے چې په قوم د بړيڅيو غرض مهٔ کوئ. په مجرد د فرمان فوځ د مغلو پستنه روان شهٔ و حاکم ته ورغلے حقيقت ئې معلوم کړ او فرمان به جنس ئې ورته ظاهر کړ. حاکم ووې زهٔ له دې فرمان واقف نهٔ يم. دا تصرف د شيخ ثابت دے. نقل دے چې شيخ الياس او شيخ دواړه مريدان د حضرت مودود چشتي وو له مرتبې به د شيخ ثابت شيخ الياس هومره خدمت د ماشکي توب د خپل پير کړے وهٔ چې مجروح شوے وهٔ. يوه ورځ ئې په خدمت د پير عرض وکړ چې کهٔ دعا په باب د دې بنده وشي حضرت خواجه وفرمائيل هر چې تهٔ

وغوارې الیاس ووې یا شیخ لینده غشي د بلا غوارم. حضرت خواجه وفرمائیل اې الیاسه چا هم بلا غوښتې ده بیا ئې هم هغه عرض وکړ شیخ ووې هر چې ته غوارې پس له هغه شیخ ثابت په عرض ورسول چې یا شیخ الیاس مرد پرعتاب دې مبادا چې دې ما قوم ته ضرر ورسوي حضرت خواجه وفرمائیل چې غشي د بلا به د شیخ الیاس دې تا[۱۲۶۲] په قوم کر گر نهٔ شي.

ذکر دې اتلسم

هغه سوخته د اور د فراق او گنډلې په ناوک د اشتیاق یعني شیخ الیاس بړیخ مرید د حضرت خواجه مودود چشتي وهٔ. هر گاه چې تیر او تر کش د بلا پیر ورته عنایت کړهٔ په رخصت د پیر خپل کور ته راتهٔ اوښانو د حضرت خواجه لار نیولې وه. شیخ الیاس بسم الله اکبر ووې او خپل مسواک ئې په لور د اوښانو وغورځاوهٔ واړه اوښان ومړل. هرگاه چې دا خبر و خواجه ته ورسید وې فرمائیل چې غشې د قضا نهٔ جاروځي.

ذکر دې نولسم

هغه مجذوب کامل او هغه دیوانه عاقل یعني شیخ مانکي شهباز بړیخ دیوانه د مئې الست وهٔ، او خلق به طعام دپاره د دهٔ صحرا ته وروړهٔ اما دهٔ به هیڅ نهٔ خوړل اگر چې کهٔ ډیر به وږې شهٔ او په هغه صحرا کښې‌مزري لیوهٔ ازار د پسهٔ نهٔ غوښتهٔ او ډیر مستجاب الدعوات وهٔ.

ذکر دې شلم

هغه طالب د حقائق رباني او کاشف د اسرار معاني زبده د ابرار خلاصه د احرار یعني شیخ متي خلیل ډیر صاحب عبادت او ریاضت وهٔ او دهٔ ته سر حلقه د دولسو خانه واده[۱۲۶۳] وٗ د سرېن وائي. او ډیر پښتانهٔ په اراده ورته راغلل او مریدان شول. تر هسې حده غلغلې د دهٔ د کرامت په عالم کښې شهرت پیدا کړ. په دا سبب شیخ حسن کیتهر کاسي په امتحان د کرامت په ملازمت د متي خلیل راغې او له مخ ئې د جلالیت له شیخ متي خلیل نه پوښتنه وکړه چې خپل خان ته سرحلقه د دولسو خانه واده د سړبن وائې یا نهٔ وائې. دهٔ وې هو هر گاه چې په غاړه د اوبو ناست وهٔ. شیخ حسن ووې دریاب هم اوبهٔ لري او دا هم اوبهٔ دي چې په غاړه ئې ناست یو. په دې اوبو کښې غوطه کړه او مرغلرې راوباسه. شیخ متي وفرمائیل اې حسنه مرغلرې له دریابه غواصان هم راوباسي اما مرد بویه چې په زمکه غوطه ووهي او مرغلرې راوباسي. شیخ حسن کاسي ووې بسم الله شیخ متي خلیل حسن نومیدهٔ کشر خوږې ئې وهٔ ورته ئې ووې راشه لاندې تر زمکې د خزانې نه د الله تعالیٰ په دواړو لاسو مرغلرې راواخله. حسن خوږې د شیخ متي په هغه ځائې چې ولاړ وهٔ زمکه وچاوده او هم په هغه ځائې په زمکه ننوت دواړه موټې ئې په مرغلرو ډک راوړهٔ او د وړاندې ئې د شیخ حسن کاسي کېښوې. شیخ حسن [۱۲۶۴] کاسي هم دا اراده وکړه چې په زمکه ننوځي او

مرغلري راواخلي هر گاه چې تر زنګونو په زمکه ننوت شيخ متي خليل لاس په زمکه کښېښول او وې وئيل مۀ ئې پرېږده. شيخ حسن دواړه زنګونونه په سختۍ له زمکې راوکښل او پښې ئې د شيخ مې ونيوے او وې وئيل چې دې تا بزرګي مې قبوله ده. والله اعلم بالصواب.
ذکر يوويشتم هغه عاشق د الله او شهباز د دين د حبيب الله دانندہ د راز ازل شيخ عارف اودل په کناره د آب ارغسان چې په نواحي د قندهار واقع دے سکونت ئې درلۀ او مست او ديوانه د شوق الٰهي وۀ يوه ورځ يوه ارتينه مغلاني وه په بازار کښې پرې برابره شوه. شيخ عارف په مجرد د ليدو هغه ارتينه په غيږ کښې ونيوه. کوتوال دواړه ونيول او ميرزا احسن ته ئې چې حاکم د قندهار وۀ ورروستل. حاکم وفرمائيل چې دواړه تاودۀ تنارۀ کښې واچوئ. دواړه ئې تنارۀ ته واچوۀ يو ويښتۀ د دواړو ونۀ سوۀ او په تنارۀ کښې ئې وريتۀ کباب خوړل. هر گاه چې دا خبره حاکم ته ورسيده راغے او عذر ئې د خپل تقصير وغوښت. او وې وئيل اے شيخ [١٢٦٥] څۀ له ماله وغواړه. شيخ وفرمائيل هيڅ خواهش نۀ لرم. دا رنګ خوارق د عادت له شيخ عارف اودل نه په ظهور راتلل اما په سبب د اختصار د کلام په دا څۀ اکتفا وشۀ.
ذکر دے دوه ويشتم هغه عاشق صالحي او عارف والي شيخ حسن کاسي ډير عتاب او جلاليت درلۀ يوه ورځ له خپله قومه او له کليه ازار شۀ بد دعا ئې ورته وکړه هغه ورځ خلو ښت جنازې له هغه کلي ووتې. خوارق د شيخ بې شماره او بې حسابه دي په دا قدر اکتفا وشوه.
ذکر دے درويشتم هغه خلاصه د عارفين او عمده د راشدين يعني شيخ کروچوپان سربني ډير صاحب د زهد او د تقويٰ وۀ او صلاحيت ئې تام درلۀ. يوه ورځ په مسجد کښې ناست وۀ يو شخص ورته اسپې راوستې او عرض ئې وکړ چې دا اسپې بار نۀ اخلي شيخ وفرمائيل بلاربې به شي هر گاه چې تر نظر د فقيرانو تيرې شولے بې ايغره به بار واخلي. اول څل به بيهانونه راوړي هغه دې ما دي دويم څل به بيهانې راوړي هغه دې تا دي. اخر الامر هم هغه رنګ چې شيخ[١٢٦٦] فرمائيلي وو په ظهور راغلل. والله اعلم بالصواب.
ذکر دے څليرويشتم هغه مقبول سبحاني واقف د اسرار نهاني يعني شيخ بهدين بختيار ډير متعبد او صائم الدهر او قائم اللّيل وۀ او ډير خلق لاس د ارادې په لمن د دۀ ښخ کړې وو او نږدې په يوۀ کروه و قلعې ته د ګوالير ئې د دوۀ زرو کورنو د بختيارو وطن نيولے وۀ او په وخت د سلطنت د اسلام شاه سور وۀ. ډير خلق ترې فائض او بهره مند شۀ او پاس په سر د غرۀ ئې مقام غوره کړے وۀ. نقل دے يوه ورځ وقت د نمانځۀ راغے اوبۀ ئې دپاره د اوداسۀ وغوښتے. خادمانو عرض وکړ چې دلته اوبۀ حاضرې نشته خادمان د غرۀ نه کوز شول او لرې

لري اوبـهٔ ئې راوړے. چاړهٔ پرته وه شيخ بسم الله ووې هغه چاړهٔ ئې واخسته دوه درې خله په زمکـه ئـې وټـومبـله کاني بنکاره شهٔ. په فرمان د حق تعاليٰ خوږې اوبهٔ لاندې تر کاڼي ښکاره شوے پس له هغه ئې هغه ځائے جوړ کړ او وړوکے حوض ئې ساز کړ. ساکنانو د هغه ځائے هم هغه اوبهٔ څښے او فرزندان د دهٔ په مصلي د دهٔ ناست دي. [۱۲۶۷]

ذکـر دے پينځويشتم هـغـه غوث د وقـت يـعـنـې شـاه بختيار وطن ئې په قصبه کېنې د جهنجانے دے. صاحب کشف او صاحب حال وهٔ او هميشه ئې درد د محبت درلهٔ هرګاه چې خـلوت ئې د ځيلې اختيار کړ ځلويښت لونګ به ئې له ځانه اخستل او اکثر حاجيان به چې په مـلازمـت ورتـه راغـلـل وبه ئې وئيل چې شيخ کله له مکې معظمې تشريف فرمائيلے دے چې مـونږ شيخ په مکه کېنې ليدلے وهٔ. نقل دے چې يوه ورځ خادمانو جامې د شيخ لوندې وليدے عـرض ئـې وکـړ چـې يا شيخ جامې دې تاسو څهٔ رنګ لوندې شوے. وې فرماليل چې بيړی د يوهٔ له طالبانو ډوبيده په مدد ئې ورغلم پس له څو ورځو هغه طالب په خدمت حاضر شهٔ او نذر ئـې تـر نـظـر مبارک تير کړ چې بيړی فلانه ځائے ډوبيده دا قدر نذر مې د شيخ قبول کړ. حق تـعـاليٰ کشتي له هلاکته په سلامت وويسته. نقل دے چې هرګاه اواز د شيخ د خوارق عادت پـه عـالـم کېنـې شهرت ونيو بعضې مشائخو د هغه ځائے له دهٔ سره حسد برپا کړ او غلهٔ ئې په مـرګ د دهٔ بـاعـث کړهٔ. هرګاه چې دُزدان[۱۲۶۸] و حجرې ته د شيخ راغلل بند بند او سر ئـې لـه تـنـې نه د شيخ جدا وليد وويريدل او دا حقيقت ئې و حاسدانو ته د شيخ ووې. حاسدان هم په حلقې د شيخ د ارادت راغلل. والله اعلم.

ذکر دے شپږويشتم هـغـه شهـسـوار د معـرکې د تفريد او نهنګ د بحر د توحيد عاشق صـادق پـه علم اليقين او عين اليقين يعنې ملک يار پران خرسين. يوه ورځ په نواحي د دهلي پـه بلند ځائے ورغے حضرت ملک يار پران هغه ځائے خوښ کړ او دا مکان د حضرت ابابکر طـوسـي وهٔ. شيـخ ملک يار و شيخ ابابکر ته ووې چې دا مقام دلکشا و ماته عنايت کړه شيخ ابـابـکر عذر راوړ چې کهٔ بادشاه ئې و شيخ ته ورکا مضائقه نشته. په دغه وخت سلطان غياث الـديـن و مـلتـان تـه لاړ وهٔ شيـخ ملک يار پران په طرفة العين کېنې ځان و لښکر ته د بادشاه ورسـاوهٔ او هغه ځائے چې بادشاه ناست وهٔ حاضر شهٔ وې وئيل السلام عليک يا سلطان غياث الـديـن يـو مـقـام دے پـه نـژدې د دهـلي و ماته ئې راکړه. سلطان غياث الدين هغه زمان فرمان وکـيـښ ور ئـې کـړ. هـغه ځائے او هر څو زمکه[۱۲۶۹] چې د شيخ ملک يار پران پکار وې تـعلق له دهٔ نړي. له هغه ځايه بيا په هوا راروان شهٔ او ځائے ته د شيخ ابابکر راغے او هغه فرمان ئـې و شيـخ ابـابـکـر ته ښکاره کړ. حضرت شيخ ابابکر هغه ځائے و شيخ ته پريښ خود يو بل

خائے ته چې بلند مکان وۀ او نژدې و هغه مکان ته وۀ راغے او هغه خائے يو جوګي غوره کړے وۀ د خپل خان دپاره او استوګه ئې پرې کوله هغه جوګي ئې پاڅوۀ او خان ته ئې ئ په هغه خائے مکان جوړ کړ او هغه جوګي حتي الامکان سحر او جادو وکړ اما کارګر نۀ شۀ. اخر جوګي په خجالت و بل خائے ته روان شۀ. پس له هغه په میان د دې دواړو بزرګانو رابطه د اخلاص او اتحاد په مرتبه د کمال ورسیده. پس له هغه په وخت خاص دواړو بزرګانو وفرمائیل چې هر څوک له دې دواړو ډیریو تیر شي اور د دوزخ اور د دنیا به ئې ونۀ سیزي. او کۀ مرده کافر به په هغه لار تیر کړ اور به پرې اثر نۀ کړ او لرګي او وابنۀ چې به ئې په میان د هغو دواړو ډیریو تیر کړ هرګز به پرې اور دخل کړے نۀ شۀ.[۱۲۷۰] او دا کار جاري وۀ او ډیر خلائق په زیارت د بزرګانو ورتۀ او نذر و نیاز ئې ور وړۀ. هرګاه چې صل کاله له فوته د دې بزرګانو تیر شول او سلطان المشائخ شیخ نظام الدین اولیاء پیدا شۀ یوه ورځ ئې دپاره د شیخ د باورچي خانې لرګي په هغه لار راوړۀ کۀ ډیر تالاش ئې وکړ او تیل ئې هم په لرګیو تل کړۀ هرګز هغه لرګي نۀ سول. دا واقعه ئې د حضرت سلطان العارفین شیخ نظام الدین په عرض ورسوله. شیخ في الفور ووې دا لرګي په لارې ئې د زیارت د شیخ ملک یار پران او شیخ ابابکر طوسي راوړي دي. حضرت خواجه نظام الدین هورته ورغے او چله ئې تیره کړه معافي ئې د دې امر له دوې وغوښته.

ذکر دے اوویشتم هغه مست هوښیار او دیوانه خبردار یعني میان قاسم خلیل همیشه به په استغراق کښې وۀ او مجلس ئې له فقیرانو لنګ وهلیو سره وۀ. او اکثر پښتانۀ طالبان د دۀ وو. او هر کس چې به ئې په توجه د باطن و حق ته څکاوۀ تاثیر او سرایت ئې کیدۀ. زن او فرزند او خانومان ئې پرېښول لنګ وهلے [۱۲۷۱] ئې فقر اختیار کړ او هر چې به ئې په زبان مبارک تیر شول په فرمان به د حق تعالیٰ په وجود راغلل او زیارت د دې بزرګ په قلعه د چنار دے.

ذکر دے اتویشتم هغه عنصر لطیف او ګوهر شریف او مقرب د حضرت حق او عاشق مطلق یعني شیخ حسن بختیار صاحب کشف کرامات او مستجاب الدعوات وۀ. نرو ښځو د پښتنو لاس د ارادې په لمن د دۀ وهلے وۀ. او فوائد ئې موندلي وو او ارتینو د هر قوم بې منع آمدورفت په خدمت د شیخ کاوۀ څنو بد مذهبو دا مذکور از راه شرارت په عرض د اسلام شاه سور ورساوۀ چې شیخ اکثر اوقات په لیدو او په ګفتګو ئې د ارتینو ډیر میل لري. او په بد صورت ئې دا حال ورته بیان کړ بیت:

بد اندیش بر گفت چون دست یافت درون بزرگان به آتش بتافت

اسلام شاه ډیر څهٔ تابع د شریعت غرا وهٔ وې فرمائیل رائ ولې دا رنګ شخص د سوځ دے. هرګاه چې شیخ ئې په حکم د بادشاه حضور ته راوست. اسلام شاه بې درنګ پاڅیدهٔ او وې وئیل یا شیخ پاس راوخیژه. [۱۲۷۲] شیخ پاس ور ونهٔ خوت او وې وئیل ازار د فقیرانو ازار د خدائ دے. او سول د فقیرانو اور په څان پورې کول دي دا ئې ووې په جذبه روان شهٔ. دانه په اسلام شاه بنکاره شوه او اور ئې په درست صورت پورې شهٔ او پس له دریو ورځو ومړ. لګ پخوا مذکور تیر شوے دے.

ذکر په بیان د خوارق د بعضې مشائخانو چې له قومه د بیټني دي رحمة الله علیهم اجمعین

اول حضرت شیخ بیټ بیټني، ملا علي بیټني، شیخ خلیل بیټني، شیخ علي سرمست بیټني، شیخ ادریس مزباني، ملا خضر بیټني، شیخ احمد لودي، شیخ سلیمان دانا سرواني، شیخ ملهي قتال سرواني، شیخ احمد لوحاني، شیخ خضر سرواني، شیخ علي سور لودي، شیخ بایزید سرواني، شیخ یحییٰ شهید باهي، شیخ صدر جهان سرواني، شیخ مجن نیازي، شیخ محمود، حاجي الحرمین حاجي عبدالله سرواني.

ذکر اول هغه زبده د سالکانو قدوه د صادقانو معدن د توحید د حق برګزیده مطلق یعنې شیخ المشائخ حضرت بیټ او اولاد د دهٔ وته بیټني وائي. ډیر صاحب شریعت او طریقت او حقیقت [۱۲۷۳] او ظاهر او باطن ئې په صلاحیت اراسته وو او خوارق عادت ئې ډیر بنکاره او ظاهر دي. نقل دے چې یو وخت په هغه غرهٔ کښې چې وطن د شیخ وهٔ ساړهٔ زور وکړ له فرزندانو د قبیلې او له مال مویشي سره له غرهٔ راکوز شهٔ او په هسې ځائے چې ساړهٔ کم وو وائ ړول. پس له خلورو میاشتو چې بیا و خپلو کورونو ته روان شهٔ او خپل کور ته ورغے خپلې کوړمې ته ئې ووئیل چې فرزندانو دې لار وهلې ده طعام ورته پوخ کړه هغې عصمت پناهې ووې چې اوس کلي ته راغلي یُو هیڅا لا اور بل کړے نهٔ دے. پس له یوهٔ ساعت چې اور موجود شي طعام به پوخ کړم. شیخ ووې پاڅه بسم الله ووایه او نغرې ولټوه اور بل کړه. هغې صالحې ووې تبسم کوے څلور میاشتې وشوے چې له دې ځایه لاړ یُو او هومره واوړې باران وریدلې دي چې حساب ئې په خدائ دے. اور به په نغرې کښې څرنګ پاتو وي. شیخ ووې ته څهٔ غواړے بې بې پاځیده بسم الله ئې ووې لاس ئې نغرې ته وروړ. سرې سکروټې تر ایرو لاندې بنکاره شوے. تا به وړے چې [۱۲۷۴] اوس چا اور بل کړے وي. نور هغې عصمت پناهې ته شیخ بیټ وفرمائیل اول نغن چې پوخ شي ما وته راوړه. هرګاه چې اول نغن پوخ شهٔ ابراهیم ځوے د بې بې معو او نمسے د حضرت شیخ نغن ئې واخست او شیخ ته ئې راوړ او

کبنیبښ او دے په ادب ورته ولاړ وهٔ او خامن او نمسي د شیخ په خپل شغل لکه طریقه د هلکانو ده مشغول. القصه نغن ئې و ابراهیم ورکړ وې فرمائیل چې لوے دے. له هغه ورځې قوم د ابراهیم شهرت په لودي بیاموند. پس له یوهٔ ساعته نمسي د حضرت شیخ او ورونه د ابراهیم راغلل او عرض ئې وکړ چې مونږه وږي یُو نغن راکړه. حضرت شیخ وفرمائیل چې نغن ابراهیم یوړ. اوس نغن له دهٔ غواړے. دوي ابراهیم ته راغلل او نغن ئې ترې وغوښت. هر یوهٔ ته ئې قسمت ورکړ او باقي ئې خود وخوړ. القصه په دعا د حضرت بیټ بزرګي او سرداري د لودي شوه او تر قیامت په دعا د شیخ سرداري تعلق په لودي لري. نقل دے چې سړبن چې مشر ورور د بیټ وهٔ مفلس وهٔ څهٔ ئې نهٔ درلل. باوجود د دې له فرزند [۱۲۷۵] هم محروم وهٔ او همیشه به د دواړو آرزو کبنې وهٔ. یوه ورځ سړه بن و کور ته د ورور چې شیخ بیټ دے راغے او عرض ئې وکړ چې وروره دې تا دعا په حق کبنې د هر چا مستجابه ده ولې په باب دې ما توجه نهٔ فرمائے چې په طلب د فرزند او د دولت کوشش ډیر لرم. حضرت شیخ بیټ وفرمائیل یو ځوے دې ما بوخه او پرورش ئې کوه. د دهٔ په تلل په دې تا اولاد او دولت هومره درشي چې په حساب نهٔ راځي. اخر الامر شیخ بیټ خپل ځوے چې اسماعیل نومیدهٔ و خپل ورور سړه بن ته ورکړ. سړبن ورارهٔ کور ته راوست او تربیت او پرورش ئې کاوهٔ. پا برکت د اسماعیل د قدم دولت او اولاد ئې هومره په ظهور راغے چې تر قیامته کمیدونے نا دے. هرګاه چې اسماعیل و بلاغت ته ورسیدهٔ له ډیره ریاضته په مراتب د ولایت مشرف شهٔ او شیخ اسماعیل ځوے د حضرت بیټ دے. في الجمله مناقب او خوارق د دوي هومره دې چې له حساب افزون دي. له ډیره لړ دا څهٔ وکبنل شول.

ذکر دویم هغه معرفت پناه او حقائق اګاه او مظهر د کرامات او معدن د خرق عادات [۱۲۷۶] یعنې شیخ المشائخ ملا علي بیټني ډیر مرتاض او متورع او پرهیزګار او قائم اللیل او صائم الدهر وهٔ او سرهند کبنې ئې سکونت درلهٔ. نقل دے چې په خپلې حویلۍ کبنې ئې بنیاد د مسجد بنا کوهٔ وې فرمائیل چې دا مسجد د مدینې دے په هغه طریق ئې بنا کړئ استکار عرض وکړ چې زهٔ څهٔ پوهیږم چې مسجد د مدینې څهٔ رنګ طرح شوے دے. وې فرمائیل بنا د مسجد د مدینې و ئاته وبنیم. معمار حیران شهٔ دهٔ دواړه لاس په سترګو د معما وګرخول نور ئې ورته ووې اوس نظر وکړه هرګاه چې سترګې ئې بیرته کړے مسجد ئې مدینې ولید هالهٔ ئې دا مسجد په رنګ د هغه مسجد بنا کړ.

ذکر دے دریم هغه دُر د ګنج او غواص د بحر نامتناهي یعنې شیخ خلیل بیټني صاحب ریاضت او صاحب د مال او د حال وهٔ. هرګاه چې اواز ئې د خوارق عادت په عالم کبنې شهرت بیاموند. جلال الدین اکبر بادشاه و حضور ته طلب کړ. هرګاه چې ورغے کوز پاس ی

ښنګ بـل ښنـګ ئـې نـظـر نـهٔ وهٔ و خپـلو ښځو ته ئې کتل. بادشاه ورته ووې چې ماته ولې نهٔ ګورې؟ شیخ خلیل ورته ووې [۱۲۷۷] چې بادشاه په شریعت د پیغمبر ﷺ مستقیم نهٔ دے. یعنـې ږیـره کـلـوې. اکبـر ووې پـریـږدئ چې خې دا رنګ بلا ماته څهٔ لره راولې. والله اعلم بالصواب.

ذکر دے څلورم هغـه غوث د مجردانو او مهدي د سالکانو قدوه د اهل تصوف یعنې شیخ علـې سـرمسـت پـه زمـانـه د سـلـطـنـت د اسلام شاه مرشد او مقتدا د مخلوقات وهٔ. له ډیرې مجـاهدې او له ریاضت زیږ زبیښلے وهٔ او هر چې به ئې په ژبه تیر شو په وجود به راغلل. نقل دے چې ځائے ئې دپاره د میلمنو سازوهٔ شهتیر ورکره کم شهٔ په خدمت ئې د شیخ عرض وکړ چې هغه شهتیر چې په ډیر محنت په لاس راغلے وهٔ دري ګزه کم شهٔ. دهٔ بسم الله ووې پاڅیدهٔ او ښځـه ئـې شهتیـر تـه ورووړه او وې وئـیـل چې په څنګل کښې د ځان دپاره لوئیدهٔ د فقیرانو د کور دپاره نهٔ لوئیږي. هغه شهتیر دري ګزه نور لوے شهٔ په هغه کور موافق راغـے.

ذکر دے پنځم هـغـه بـرګـزیده د رباني او طالب د یزداني شیخ ادریس مزباني له اولاده د شیـخ بیـټ وهٔ او ډیـر مـرتـاض او زاهـد وهٔ. هـره ورځ بـه ئـې ختم د قرآن کاوهٔ او د صباح په [۱۲۷۸] نـمانځهٔ به ئې نهٔ کور او نهٔ په مسجد کښې موندهٔ. وائي چې نمونځ د صباح به ئې په مکه کښې ګزارهٔ او مرید د خانه وادې د سهرورد وهٔ او ډیر خوارق عادت ترې صادر دي.

ذکر دے شپږم هـغـه شهبـاز د مـعـرفت او بلند پرواز د حقیقت او سابق د طاعت او مظهر د کـرامت یعني ملا خضر بیټني له فرزندانو د عبدل بیټني ډیر درویش او مرتاض وهٔ. نقل دے چې څوک لـه خپـلـو متوطنانو ورته راغلل او عرض ئې وکړ چې یا شیخ خلق په مونږ باندې ستم کا خرهٔ غوایـهٔ زمونږ په کر کښې پریږدي زراعت مو پائمالوي شیخ ملا خضر وفرمائیل څاروي د هر چا چې په تول ستاسو ګډ شي هلاک به شي. په موجب د شیخ د وئیلو د هر چا څاروے چې بـه پـه کښـت ګـډ شهٔ کهٔ څښتن به ئې حاضر وهٔ تکبیر به ئې کړ او کهٔ نه مُردار به شهٔ او دا روش څو دے ژوندے وهٔ جاري وهٔ.

ذکر دے اووم هـغـه سـالک د مسـالک د حقیقت او لامبوزن د دریاب د معرفت یعني شیخ احـمـد لـودي ډیـر صـاحـب شـریعت وهٔ او په جمال او په کمال د صورت او د معنیٰ پیراسته او اراستـه وهٔ او وطـن ئـې پـه قـصبـه کښې د زمانیه وهٔ. نقل دے چې یوه ورځ شیخ [۱۲۷۹] احمد لـودي و خپـلو مریدانو ته ووې هر څوک په خپل فکر شئ دور د مغل راغـے او سلطنت د پښتنو ولاړ شـهٔ. نـن شپـه په مجلس کښې د حضرت رسالت پناه ﷺ ګفتګو د مغلو د خلافت کیده. تـمـام مـجـلـس پـه سـلـطـنـت د مغلو راضي شهٔ. او ما او شیخ احمد لوحاني دا سلطنت نهٔ قبلوه ٬ردوبدل ډیر وشهٔ. اخر تمام مجلس راوړاندې شهٔ او وې وئیل چې هرګاه سرور کائنات ﷺ دا حکـم وفـرمـائـي ځـائـے د دم وهـنـې نشته او اراده د الله تعالیٰ په دا وه پس له هغه ما هم قبوله

کړه او هم په دغه کال اسلام شاه رحلت وکړ او مغل هندوستان ته راغے .(١)
ذکر دے اتم ههٔه غر د وقار او تمکین او درياب د صدق او يقين سيمرغ د قاف د معرفت، مزرے د ځنګل د وحدت زبده د واصلان حق خلاصه د عارفانو يعني شيخ المشائخ شيخ سليمان دانا په خدمت کښې د شيخ صدر الدين عارف په مرتبې د ولايت ورسيدهٔ او اکثر خلق مريد شهٔ او تصرف ئې ډير درلهٔ.
ذکر دے نهم ههٔه د خلائق پناه او معارف آګاه مظهر د تجليات جمال او جلال يعني شيخ ملي قتال په عبادت او رياضت[١٢٨٠] هومره مقيد وهٔ چې قدرت د بشر نشته او په نظر د تربيت د حضرت شهباز قلندر په مرتبه د تکميل ورسيد او له ډيره مشقته او په خدمت ور د مکاشفې پرې پرانت شهٔ او خلق الله د ههٔه وخت لاس د بيعت له دهٔ نيول او حاجتونه د خلق پرې پوره کيدل او خوارق د عادت ترې ظاهريدهٔ او په تکميل د ناقصانو او په تربيت د مريدانو ئې شان عظيم درلهٔ او نذر و نياز ورته ډير راتهٔ ليکن لاس په لاس ئې تصرف وهٔ. نقل دے چې يوه ورځ شيخ ملي قتال سور تهٔ ناګاه چوګان بازي بادشاه کوله شيخ وفرمائيل ما هم چوګان بازي وکړے . په دا ميان کښې دوه چوګان په حضور د ههٔه جماعت چې په رکاب کښې د شيخ تلل له آسمانه راکوز شول شيخ چوګانونه واخستل او په چوګان بازی مشغول شهٔ. اوس هم ههٔه چوګان فرزندانو ځخه چې په مصله ئې ناست دي موجود دي. هرګاه چې جهانګير بادشاه له دې واقعې خبر شهٔ متعجب شهٔ ورغے او زيارت ئې د ههٔو چوګانونو وکړ. بيا ئې و فرزندانو ته د شيخ ورکړهٔ. دا واقعه سن زر نولس په وقوع راغلې وه. [١٢٨١] نقل دے چې يوه ورځ پنځوسو درويشانو شيخ ته تکليف د طعام ورساوهٔ او ههٔه ورځ په کور کښې هيڅ موجود نهٔ وو بسم الله ئې ووې ديګ ئې د اوبو ډک کړ پاس ئې په نغري کښېښ کنډول ئې د کولال د کوره راوغوښت له ههٔه ديګ ئې په خپل لاس طعام وکيښ او کنډول ئې ترې ډک کړ ههٔو درويشانو ته ئې واستوهٔ درويشانو ههٔه طعام وخوړ ماړهٔ شول او ههٔه کنډول ډک ترې پاتو شهٔ. او ههٔه کنډول اوس هم ههٔه چا ځخه چې په مصلې د شيخ ناست دے موجود دے.
ذکر دے لسم ههٔه عاشق د صدق او صفا او عارف کامل او باوفا يعني شيخ المشائخ (احمد) لوحاني ډير مرتاض او پرهيزګار وهٔ او دهٔ ته به ئې شيخ احمد آفرين باد هم وئيل نقل دے چې چا ځرمن او سر پټې راوړهٔ دعا ئې وکړه ژوندي شول او ډير تاثير او سرايت ئې په کلام کښې وهٔ. او عجائب او کرامات ئې تر حساب د اندازې بيرون دي. کهٔ واړه په دې کتاب وکښل شي ميدان د کتاب به ئې طاقت د احتمال نهٔ لري.

ذکر دے یوولسم هغه قطب د واصلانو او غوث [۱۲۸۲] د سالکانو او مقتدا د انام پیشوا د اهل اسلام یعني شیخ خضر سروانی، مقتدا د خپل وخت وهٔ او خبر لي ډیر تاثیر درلهٔ او قهر د دهٔ په غاړه د رود چې رابهن نومي او له کوه سلیمان راځي واقع دے. یوه کوزه ډکه د اوبو هورته پرته وي هر گاه چې څوک په دعویٰ ورشي او اقرار په سوگند وکا له هغه کوزې اوبهٔ وڅښي کهٔ ربښتینے وي سلامت پاتو شي او کهٔ دروغ گوئ وي گیډه ئي لکه د مشک هسې ډوډه شي څو اقرار په خپل تقصیر نهٔ شي هومره ئي خلاصے ممکن نهٔ وي او هورته دا عمل تر اوسه جاري دے.

ذکر دے دولسم هغه قطب د سالکانو او برهان د عارفانو او چوڼ د درگاه الٰهي شیخ علي سور لودي چې شاهو خیل وهٔ او په قصبه د کهرور چې له توابع د ملعان وه وطن ئي نیولے وهٔ ډیر متعبد او مستجاب الدعوات وهٔ او نظر ئي ډیر فیض الر وهٔ. اکثر خلق د هغهٔ خائے مرید د دهٔ دے دیرش کاله شم نهٔ لاست نقل دے چې څو لرگي دپاره ئي د شیخ د محل راوړي وو لس تنه غلهٔ وو څو لرگي ئي پټ کړهٔ په سر ئي واخستل روان شول. هرگاه [۱۲۸۳] چې په خپل خائے ورسیدل لرگي ئي له سره نهٔ کوزیدل او کهٔ هر څو ئي غوررزول نهٔ پریوتل شول. بیا ئي له هغه لاړې و هغه خائے ته چې لرگي ئي ترې راوړي وو وې وړل او وائ چول. هرگاه چې صباح شهٔ غلهٔ شیخ ته راغلهٔ او په خپل تقصیر اقرار شول کرامات او خوارق د شیخ ډیر دي اما پـه دا څـهٔ اکتفا وشوه او سلسله د شیخ تر اوسه مورده د خاص او عام ده او اولاد او فرزندان د شیخ په مصلې د شیخ ناست دي.

ذکر دے دیرلسم هغه قدوه د سالکانو او زبده د واصلانو او غرق په سیند د فنا یعني شیخ بایزید سرواني ډیر مرتاض او صاحب کشف او مرتبه ئي د غوث درله. نقل دے چې په گجرات (۱) کښې شیر خان فولادي مجلس د مولود د حضرت مصطفیٰ ﷺ ترتیب کړے وهٔ او اکثر صوفیان او پرهیزگاران او درویشان په مجلس کښې د مولود جمع وو او شیخ بایزید هم و دغه مجلس ته تشریف فرمائیلے وهٔ. اتفاقاً شیخ محمد غوث چې د گوالیر وهٔ او له ملاحظې د شیر شاه ئي تیښتٔ اختیار کړے وهٔ و گجرات ته لاړ وهٔ اتفاقاً محمد غوث هم په هغه مجلس کښې [۱۲۸۴] حاضر شهٔ. اراده ئي د شیخ د مصافحې او د لاس نیوٗ وکړه شیخ لاسونه ور نهٔ کړهٔ شیر خان فولادي چې صاحب د مجلس وهٔ و شیخ بازید ته ئي عرض وکړ چې شیخ محمد غوث ته مو په څهٔ لاس ور نهٔ کړ. وې فرمائیل چې صورت مې د خپل پیر ولید لاس ئي دې ما له ورکولو د محمد غوث پستنه وشکاوهٔ والله اعلم.

ذکر دے څوارلسم هغه مشیخت پناه او معارف دستگاه کاشف د مکاشف حقیقت عارف

د معارف طریقت مورد د فتوحات الٰهي شیخ یحییٰ شهید باهي. صاحب د حال او د مجاهدې وهٔ او مریدان د دهٔ په برکت په عظیمو مرتبو سربلند شوي وو او مقبره د شیخ پاس په غرهٔ د وانوا ده.

ذکر دے پینځلسم هغه مظهر د تجلیات غیبي او مصدر د فتوحات لاریبي یعنې شیخ صدر جهان سرواني. په ډېر طاعت او ریاضت په مرتبې د قطب مشرف شهٔ او ډېر تصرف او خوارق ئې درلل. نقل دے چې سلطان سکندر لودي یو اس او څهٔ نقد په طریق د نذر و شیخ ته راستول. شیخ هغه زر په فقیرانو قسمت[۱۲۸۵] کړهٔ او اس ئې ذبح کړ او فقیرانو وخوړ. هرګاه چې دا حقیقت و سلطان سکندر ته ورسید آزرده شهٔ او سړے ئې په خدمت د شیخ راسعوهٔ چې اس دې ما ېستنه راستوه شیخ خواب ورکړ چې زهٔ سوداګر نهٔ یم چې پرورش د اس کوم. بادشاه له غوښتو د اس لاس نهٔ نیوهٔ. بیا ئې ترې طلب کړ اتفاقاً هغه زمان شیخ په غاړه د حوض ناست وهٔ و سړي ته ئې د سلطان سکندر ووې چې اس د بادشاه په حوض کښې دے وې پیژنه. وایځ خله هغه شخص قدرت د خلاف امر نهٔ درلهٔ هغه درنګ حوض ته ورغے خلوېښت اسونه هم هغه رنګ په حوض کښې ولاړ وو نور هغه سړے له حوض راوجاروت او عرض ئې وکړ چې یا حضرت شیخ اس د بادشاه زهٔ پکښې نهٔ پیژنم. شیخ وفرمائیل چې اس د بادشاه دې حاضر شي هغه زمان اس د بادشاه حاضر شهٔ شیخ هغه اس حواله په هغهٔ کړ او وې فرمائیل چې غرض په حال د درویشانو مهٔ لره. دا کار مستحسن نهٔ دے. او اوس هم هغه حوض په قصبه د مالنیر (۱) داخل په منزل کښې د شیخ دے. او طبیله ئې[۱۲۸۶] په هغه ځائے د حوض ودرولې ده او هغه طبیله په نامه د جلهوره وارد شهرت موندلے دے او اکثر خلق د اطراف او د جوانب په زیارت ورځي. او فرزندان د شیخ په مصلي د ارشاد او د هدایت د دهٔ مستقیم دي.

ذکر دے شپاړسم هغه غوث د عصر او محبوب د دهر ذاکر د مولیٰ فارغ له دنیا یعنې شیخ مجن او سلسلې ته د دهٔ مجن خیل وائي. په اول د ځوانۍ په سیل او په ښکار مشغول وهٔ. یو ورځ په ښکار کښې جذبې د عنایت ئې ګریبان ونیوهٔ او باد د هدایت د پروردګار پرې والوت مجذوب الحال او مغلوب العقل شهٔ. له ډېره شوقه ګډیدهٔ او تهٔ او اولاد د دهٔ شان عظیم لر او زیارت ئې ځائے د خاصو عامو دے.

ذکر دے اوولسم هغه عرفان پناه او حقائق دستګاه او مظهر تجلیات رباني او واقف اسرار پنهاني یعنې شیخ محمود حاجي مشر وررور د حضرت شیخ ملهي قتال وهٔ. او صاحب سجاد وهٔ خلق د هغه عصر په ارشاد او هدایت د دهٔ په مطلب اصلي ورسیدهٔ او مناقب ا

خوارق او كرامات ئي اظهر من الشمس دي.

ذكر اتلسم [۱۲۸۷] هغه سياح د عالم جاودانې او لامبوزن د بحر رحماني حاجي الحرمين حاجي عبدالله سرواني. ساكن په قصبه كښې د ند آبادي وۀ (۱) او درست عمر ئي په تلل راتلل د حج صرف كړ. نقل دے چې هميشه به په غاړه د كوهي ناست وۀ او هر چا چې به نقد او جنس په طريق د نذر او نياز وړۀ واړه ئي و كوهي ته اچول. له دې كاره خلق حيران وو نۀ پوهيدل چې مطلب د شيخ څۀ دے. والله اعلم بالصواب.

ذكر د خوارق او كرامات د بعضې مشائخانو چې غرغشتي دي

اول خواجه خضر كاكړ، شيخ خذو ناغر، شيخ حسن الفغان، شيخ كمال كاكړ، شيخ ابو اسحاق داوي، خواجه كري تارن، شيخ ارميا تارن، شيخ بدك تارن، شيخ علي تارن، شيخ احمد بني، ملك آدم كاكړ، شيخ محمد شون بني، شيخ حمزه كاكړ، شيخ نيك نام داوي، انۀ تنه مردان كاكړ زلغوزي، شيخ جمال كاكړ، شيخ مونا ناغر، شيخ عيسيٰ مشواني.

ذكر اول هغه برهان د عارفانو مقتدا د سالكانو هادي د طريقت مرشد د حقيقت او مظهر د اسرار غيبي مطرح د انوار لاريبي يعني خواجه خضر كاكړ[۱۲۸۸] غوث د خپل وخت وۀ صائم الدهر قائم الليل وۀ. نقل دے چې هر گاه غلبه د شوق الٰهي پرې غالبه شوه نيمې شپې يا په اخر د شپې به ئي يا رب يا رب په ژبان جاري شول. هغه څوک چې به نژدې وۀ خواب به ئي د لبيك عبدي اوريدۀ او ويونے ئي نۀ معلوميدۀ.

ذكر دے دويم هغه نمر د آسمان د ولايت او رهبر د صحرا د هدايت او چوڼ د درگاه رباني او مخصوص د بارگاه سبحاني يعني شيخ خذو ولد يونس ناغر. ډير بزرگ او مرجع د خاص او د عام وۀ او خوارق د عادت ترې ډير ظاهريدل. نقل دے چې ودم څوے د چار چې څوے د شيراني وۀ څلور فرزندان ئي وو. يوه ورځ سيداني ښكار ته لاړ وۀ. په صحرا ئي يو درويش وليد چې توپي ئي په سر وه او مرى په هغه توپي پورې زوړندې وے سيداني په غرور د ځواني او اعتماد د خپلې تير اندازى مرى په غشي له توپي د هغه درويش وغورزوله. درويش په قهر شۀ او وې وئيل دې تا په كور كښې بې له يوۀ مرده بل ژوندے نۀ پائي غشے د سيداني و توپي ته ورسيدۀ. [۱۲۸۹] اما غشے د درويش په نشاني د اجابت ورسيدۀ له هغه وخته په اولاد كښې د سيداني كۀ به فرزند پيدا شۀ پلار به ئي مړ شۀ او يا به ئي څوے فوت شۀ. پس له څو ورځو له اولاده د سيداني په كور كښې د يوسف چې نمسے د سيداني وۀ فرزند تولد شۀ. نيا د هغه هلك چې په حقيقت د هغه درويش د دعا خبر وه په ژړا شوه. ناگاه شيخ خذو په دا وخت كښې هورته پيښ شۀ عاجزي او بيتابي د هغې ارتيني په زړۀ د دۀ اثر

وکړ وي پوښتيده چې اے مور دا هومره ژړا او واويلا په څهٔ ده. دے حقيقت ورته ووي. شيخ خـذو وفـرمـائيـل هغه ووړکے چې پيدا شوے دے را ئې وړه هغې ارلينې نمسے و شيخ خذو ته راوړ شيـخ بسم الله ووې او خپله خلهٔ مبارکه ئې و نامهٔ د هغه هلک ورووړه توبرے ئې آلوده په زهـرو پـه زور د غـابنو له نامهٔ د هغه کودک راوکيښ او وې فرمائيل چې دا توبرے د کم خطا غشي د درويشانو دے. اوس به دې تاسو په اولاد کښې برکت پيدا شي.

ذکر دے دريم هـغـه کـعبـه د اربـاب[۱۲۹۰] حـاجات او قبله د مرادات يعنې شيخ حسن افـغـان پـه خـدمـت کـښـې ئې د شيخ بهاؤالدين زکريا ډير کالونه تير کړي وو. او په برکت د شيـخ د خدمت په مرتبې د کمال رسيدلے وهٔ. نقل دے چې يوه شپه حضرت شيخ بهاؤالدين و مسـجـد ته راغـے ډيوه د مسجد مړه شوې وه. شيخ حسن ته ئې اشارت وکړ چې ډيوه بله کړه راوړه. شيـخ حسـن پـه گـوتـه اشـارت و ډيـوې تـه وکـړ بـلـه شوه. شيخ له ليدو د دې واقعې وفرمائيل چې دا هومره خودنمائي ښه نهٔ ده. نقل دے چې يوه ورځ په وخت د گرمي بيوزے په لاس کښې د حـضـرت شيخ بهاؤالدين وهٔ و حسن پښتانهٔ ته ئې وَرکړ چې بيوزے وهه. حسن بـيـوزے له لاسه د حضرت شيخ واخست او خود په ادا کول د نمانځهٔ مشغول شهٔ چې وَخت د نـمـازديـگـر تنگ شوے وهٔ او بيوزي بې له مدده د لاس حرکت او جنبش کاوهٔ. نقل دے چې يـوه ورځ حسـن افـغـان په واسطه د نمانځهٔ و مسجد ته راغـے مؤذن تکبير وکړ او امام ډهاره د امـامـت وړاندې شهٔ شيخ حسن وروسـې اقتدا وکړه هرگاه چې [۱۲۹۱] له نمانځهٔ فارغ شول او مقتدي و کور ته لاړل خواجه حسن و امام ته نژدې شهٔ او ورو ئې ورته ووې چې اے امامه تهٔ پـه مـانـځـهٔ ودريـدے او مـا پـه تـا پسې اقتدا وکړه له دې ځايه و دهلي ته لاړې او وينځې دې واخستے او هـغـه وينځې دې و ايران ته بوتلے او خرڅې دې کړے. بيا و ملتان ته راغلے او زهٔ هـم پـه تـا پسې گرزيدم ووايه دا څهٔ رنگ نمونځ دے. هاله امام په پښو د دهٔ پريوت او معلوم ئې کړهٔ چې دا شيخ حسن پښتون دے.

ذکر دے څلورم هـغه مجمع د کمالات وهبي او مورد د فيوضات لاريبي يعنې شيخ کمال کـاکـړ، صـاحب د ذوق او د وجد وهٔ او بې له يوې تختې ځادره بل بستر ئې نهٔ وهٔ او هميشه به اور ورتـه حـاضر وهٔ او هر مسافر او سوالي چې به په خدمت د شيخ راغـے يو سير د غنمو اوړهٔ او دوه شيـر شـاهـي غـوړي به ئې له موري راواخستل او هغه شخص ته به ئې ورکړهٔ او د هيڅ کـس سـوال رد نـهٔ مـونـدهٔ هرگاه چې درې څلور پنځهٔ زره تورې به خرڅ شوے هغه موري به راغـے او سلام به ئې وکړ لړې به ودريد شيخ [۱۲۹۲] به حضور ته وبالهٔ ورته به ئې وفرمائيل چې هـر څـو بـرداشـت چې له تا شوے دے ايرې د نغرې ولتهوه وائ خله. او دا کار څو شيخ

حیات وهٔ جاري وهٔ او هر محتاج او درمانده چې به ورته راغے په قدر د حاجت به ئې احتیاج د
هغه شخص پوره کړ. نقل دے چې یوه ورځ شیخ جمال کاکړ چې په قصبه کښې ئې د بیدولي
(۱) سکونت درلۀ په مسجد کښې ناست وهٔ ناگاه څو پیاده گانو یو مقدم واخهٔ او واجبي زر ئې
تري غوښتل هغه مقدم په ډیرې زارۍ او عاجزۍ و شیخ ته راغے او فریاد ئې وکړ چې یا
حضرت شیخ ما له دي بلا خلاص کړه. شیخ هغه مقدم او پیاده و خپلې تکیې ته راوستل او
وې فرمائیل هومره زر چې موافق دي تا د مخلصی دي له دي نغري وکاږه وایٔ خله. هغه مقدم
لاس و نغري ته وروړ سپینې روپۍ ئې راویستے او هره روپۍ چې ئې له ایرو رایستله بله
وریسې ښکاریده څو د مقدم پکار وے هومره روپۍ ئې واخستے او ځان ئې راروان کړ او یو د
بله ئې ووې چې په هغه نغري کښې گنج دے وبه ئې کاږو او وا به ئې خلو کهٔ هر څو ئې ایرې
[۱۲۹۳] د نغري لټولے یو فلوس ئې بیانهٔ موند. پس له هغه ئې واړه ایرې تولې کړے او وایٔ
خستے روان شول. څو قدمونه ئې اخستي نهٔ وو ړانده شول. نقل دے چې هغه بقال چې موري
د حضرت شیخ کاکړ وهٔ ومړ د وړاندې د شیخ تر تکیې ئې تیروۀ او سوۀ ته ئې وړو شیخ
وفرمائیل چې دهٔ ته حساب دي ما پاتو دے چرته ئې وړئ. تابوت ئې و شیخ ته راوړ هم هغه
رنگ په کفن کښې نغښتے پاځیدهٔ او په پښو د شیخ پریوتهٔ. والي چې دولس کاله ژوندے نور
هم پاتو شهٔ. والله اعلم بالصواب. دا رنگ خوارق عادات له شیخ ډیر په ظهور راغلي دي.

ذکر دے پنځم هغه حاجي الحرمین او مقبول د کونین یعني شیخ حضرت ابو اسحاق
داوي په اصل سید دے هر گاه چې نسب ئې له جالب د والد (۱) په افغان ورځي په دا ئې ورته
افغان ووې. او په عبادت او په ریاضت ډیر مشغول وهٔ او خلق الله لاس د ارادت په لمن د دهٔ
ښخ کړي وو. په لږ توجه به د دهٔ په مطالب اصلي کامیاب شول او سلسله د دهٔ د اولاد او د
نمسیو په قصبه کښې د کیتهل (۲) [۱۲۹۴] په مسند د هدایت او د ارشاد ناست دي. نقل
دے چې یوه ورځ په سیند د مراقبې او د مکاشفې مستغرق وهٔ سر ئې له مراقبې پورته کړ او
وې وئیل انا لله و انا الیه راجعون حاضرینو د مجلس عرض وکړ چې یا حضرت خیر دے وې
فرمائیل چې اسلام شاه سور مړ شهٔ. هغه ساعت ئې د تجربې وکیښ. پس له څو ورځو چې په
تحقیق ورسیدل چې په هغه ساعت او په هغه ورځ چې په زبان مبارک تیر شوي وو اسلام شاه
سور فوت بیاموند. هو زړونه د بزرگانو جام جهان نما وي.

ذکر دے شپږم هغه ذاکر د حق او مقبول مطلق یعني خواجه کري تارن مقبول د درگاه د
پروردگار او شب و روز په روژه او په نمانځهٔ مشغول وهٔ او خوارق عادات ئې ډیر درلل.

ذکر دے اووم هغه سالک د لار دحق هادي د طریقت برحق یعني شیخ ارمیا تارن مرتبه ئې

د غوث درلـه او ډیـر مشـائـخان ئي لیدلي وو. او فیض ئي ترې حاصل کړے وۀ او مستجاب الدعوات او سیاح د ربع مسکون وۀ.

ذکر دے اتـم د هـغه برهان المتحققین شیخ بډک تارن چې په مرتبه د غوثیت رسیدلے وۀ د ډیـرو اولیـاؤ صـحبت او تـرې فیض ئي بیاموندلے وۀ دعا به ئي قبلیده او د ټولې دنیا سیر ئي کړے وۀ.(۱) [۱۲۹۵]

ذکر دے انـم هـغـه عـاشـق کامل او په فیض د حق شامل شیخ علي تارن ډیر مرتاض او عابد وۀ. او ډیـر بـزرګ وۀ او په ښهر د حاجي پور (۱) کښـې ئـې عظیم شان درلۀ او هم هورته ئي آسودګي موندلے وه.

ذکر دے لسـم هغه محرم د راز جلال او مکرم په درجو د کمال شیخ احمد شون ډیر روشن ضمیر او صاحب درد او سوز وۀ. او سکونت ئي په قصبه کښې د بجواړ (۲) نیولے وۀ او ظاهر ئـي ډیـر تـصـرف درلـۀ او پـه سخاوت او شجاعت کښې یګانه د وخت وۀ. او په علم تصوف کښـې بـې نـظیـر وۀ او بـعضې مشکلات ئي له کتاب د فصوص (۳) ایستـلـي او کښلي وو په ملازمت د زبدة الواصلین میان شیخ عیسیٰ سندهي ته و برهان پور (۴) ته واستول او طلب ئي د خـواب کـړے وۀ. شیخ ئي حل دقائق وکړ او خواب ئي راستوۀ او خوارق هومره ترې صادر نۀ دي چې په بیان راوړل شي.(۵)

ذکر دے یوولسم هغه غواص د سیند د تجرید او سیاح د صحرا د توحید شیخ ملک آدم کـاکـړ یـو لـه لـویو [۱۲۹٦] امراګانو د سلطان بهلول او د سلطان سکندر لودي وۀ. او خپل خـان ئـې پـه لبـاس کښـې د امـرایـې پټ کړے وۀ. هر ګاه چې په ملازمت به د سلطان سکندر راغـے بـادشـاه بـه ورتـه پـاخیـدۀ او پاس په تخت به ئي له ځانه کښیناوۀ او کشف د حقائق او خبـریدل په پټ راز او خوارق د عادات او اوصاف حمیده او اخلاق پسندیده د حضرت شیخ لـه حـده د تـحـریر او د انداز د تقریر متجاوز دي. ځکه اکتفا په یوۀ نقل وشوه. له ښو سړیو په تـحـقیـق رسیدلي دي چې سلطان سکندر او ملک آدم کاکړ دواړه په مرتبې د غوث رسیدلي وو او نقل دال د دوي په ولایت دے. نقل دے چې یو دوبي متوطن د بیانې وۀ او ارتینه ئي ډیره صـاحب جماله وه او اتفاق د سفر تر اګزې پورې ورته پیښ شۀ خپله ارتینه ئي چې په صورت ښـائسته وه او په زیور اراسته وه له ځانه روانه کړه. نژدې اباداني ته څلور تنه لونډان پرې پیښ شول. دوبي خپل ځان له تلو موقوف کړ او هغو [۱۲۹۷] څلور تنو ترې پوښتنه وکړه چې لار خطر لرې کۀ یو د بله په اتفاق تلے ډیر به ښۀ وو. ارتینې د دوبي ووې چې مونږ له تاسو نه ډیره مـلاحـظه په خاطر لرو نۀ بویه چې ناشائسته او نالائق فعل له تاسو په وقوع راشي. دوي څلورو

واړو مغلطه قسم وکړ او وې وئيل چې کۀ مونږ له تاسو بدي وکړو خدائ دې شاهد په ميان زمونږ او دې تاسو وي. دوبي چې قسم واوريدۀ له هغو بدکيشانو سره روان شۀ. څخو لار ئې غوڅه کړه نور هغو نا انصافو توره وکښه سر ئې د دوبي پريکړ او ارتينه ئې له ځانه له اموال سره روانه کړه. هغې عاجزې ته له لاسه د دوي خلاصے ممکن نۀ وۀ هر ساعت به ئې يو څنګ بل څنګ کتل. دوي ورته ووې چې تا حال د خپل څښتن ليدلے دے يو لور بل لور څۀ ګورے ارتينې ووې هغه شوک چې تاسو په ميان ياد کړے وۀ هغه شخص غوارم چې ما دے تر واړو زوررور ليدلے دے تاسو چې څۀ وکړ دے له دې واقعې خبر دے کۀ نۀ دے. په دا ميان کښې دوه تنه سوارۀ ورته راغلل او څلور واړه [۱۲۹۸] قطاع الطريق ئې مړۀ کړۀ يو له هغو دواړو سورو کوز شۀ سر ئې د دوبي په ګردن د دوبي پورې کړ. فاتحه ئې ولوسته دوبي پاڅيدۀ په پښو د دوي پريوت. دوي وفرمائيل چې اوس خپل مال په خپل لاس کښې کړه. دا ئې ووې نور ئې له نظره غائب شول. کوتوالانو دا غوغا واوريده او دوي ئې په سبب د دې عجيبې واقعې و دربار ته د سلطان سکندر وروستل تمام حقيقت ئې په روئ د دربار له دوبي وپوښتيدۀ. هرګاه چې بادشاه درست حقيقت واوريد وې فرمائيل تۀ به هغه سوارۀ چې په هغه وخت ئې له تا مدد او معاونت کړے دے وبه ئې پيژنے وې وئيل چې زۀ ئې پيژنم اما له ويرې دم وهلے نۀ شم. بادشاه ووې ويره مۀ کړه ووايه. وې وئيل هغه څلور تنه تا مړۀ کړۀ او څښتن دې ما دا شخص (۱) چې دې تا په څنګ کښېناست دے ژوندے کړ. يعنې ملک آدم کاکړ پس له هغه آدم کاکړ ارتينې ته مغالطه ورکړه او وې وئيل هغه به فرښتې وے او يا به مردان د غيب وې زمونږ په صورت به ئې تاته ځان ښنيلے وي. ملک آدم کاکړ [۱۲۹۹] هم دولت هم شوکت او هم ولايت په کمال رسولے وۀ.

ذکر دے دولسم هغه سالک د راه يزداني او مقبول د درګاه رباني شيخ محمد غوث ډير صاحب حال او قال او سر حلقه د اولياؤ د وخت وۀ. او اکثر به ئې صحبت د خواجه خضر عليه السلام سره وۀ خوارق او کرامات د شيخ بې حساب دي.

ذکر دے ديارلسم هغه مجذوب عاقل او ديوانۀ کامل او بُستان د عالم شيخ حمزه کاکړ چې خوے د ملک آدم کاکړ وۀ. ډير صاحب حال او ديوانه او شيدا وۀ او اکثر به برهنه وۀ. نقل دے چې په باغ کښې د دۀ د پلار چې ملک آدم کاکړ وۀ يو کوهے وۀ او اوبۀ د هغې کوهي کمې شوے او هورته بل کوهے نۀ وۀ خکه ساکنانو د هغه ځائے په واسطه د کمي د اوبو په خدمت د حمزه کاکړ عرض وکړ چې دعا وکړه چې اوبۀ د کوهي زياتې شي شيخ په مجرد د دې خبرې پاڅيد او په سر د کوهي ورغے خښته ئې واخسته او په ډيره جذبه ئې په کوهي

کبنې وويشته او په بلند اواز ئې وفرمائيل چې اے کوهيه [۱۳۰۰] ملک آدم کاکړ تهٔ د اوبو دپاره کندلے وے ولې اوبهٔ نهٔ ورکوے. والي چې اوبهٔ د هغه کوهي هرگز نهٔ کميږي او قبر د دهٔ په قصبه کبنې د لکهنو نژدې و قبر ته د ملک آدم کاکړ دے.

ذکر دے څوارلسم هغه مظهر د انوار الٰهي او منبع د فيض نامتناهي شيخ نيکنام داوي. ډير کيميا نظر او متعبد او پرهيزگار وهٔ. نقل دے چې خوي د دهٔ خيال د کيمياگری په سر درلهٔ. دا حقيقت و شيخ نيکنام داوي ته ورسيد. وې فرمائيل چې اے ځويه هوس د کيميا لرے راشه چې تا ولـه وښيم. لاړ شه څخو شنهٔ وابنهٔ راوړه، هغهٔ څني شنهٔ وابنهٔ راوړهٔ شيخ وابنهٔ په لاس کښې ومښل او په وسپنه ئې ووهل سرهٔ زر شول. نور ئې وفرمائيل چې اے ځويه کيميا نظر د بزرگانو دے. حافظ شيرازي فرمائي بيت:

آنانکه خاک را به نظر کيميا کنند　　　آيا بود که گوشهٔ چشمے به ما کنند

ذکر پينځلسم هغه خاصان د درگاه او برگزيده د بارگاه يعني انهٔ تنه کاکړ چې مردان د خدای دي او لـه قوم د کاکړو زلغوزي وو په [۱۳۰۱] رياضت او عبادت ئې عمر تر سره وړے وهٔ. يوه ورځ کاکړ جمع شول ورته راغلل او وې وئيل اے چې تاسو مردان د خدای ډير بنه چې تاسو دلته اوسئ. او هسې کرامت دې تاسو دے خلقو ته ښکاره نهٔ شهٔ. دوې وفرمائيل کهٔ تاسو غواړئ چې حقيقت زمونږ و تاسو ته ښکاره شي انهٔ ميږونه انهٔ ديگونه راوړئ او په هر ديگ کښې يو ميږ او يو مونږ واچوئ او درسته شپه اور تر ديگ لاندې بل کړئ حالهٔ به حقيقت زمونږ و تاسو ته معلوم شي. کاکړو هغه رنگ وکړل انهٔ تنه او انهٔ ميږونه ئې په انو ديگونو کښې واچول او درسته شپه ئې اور تر ديگونو لاندې بل کړ. سبا ته ئې چې سرپوښ له ديگونو پورته کړ دوې واړه ژوندي له ديگونو پاڅيدل او غوښې د ميږونو خوړينې شوے وے. القصه واړه خلق د هغه ځائے نر او ښځې په پښو د دوې ولگيدل او عذر ئې د خپل تقصير وغوښت. پس له هغه هغو انو واړو زلغوزيو ور د حجرې په خان پسې پورې کړ. په بلند اواز ئې ووې اے ورونو اوس استوگه زمونږ بنه نهٔ ده. [۱۳۰۲] چې راز زمونږ ښکاره شهٔ او هر څوک چې انهٔ روتې په غوړو او په شکرو غوړې او په مونږ پسې فاتحه وکا. هر مشکل چې ورته پيښ شهٔ مونږ به ورسره مدد وکړو. والله اعلم.

ذکر دے شپاړلسم هغه عارف روشن ضمير او سوخته په اور د رحمان او نواخته د درگاه سبحان شيخ جمال کاکړ. نژدې و کوټ ته د گوالير په جوار د شيخ المشائخ بهدين په گوښه د ځنگل ئې حجره درله او لنگ به ئې وهلے وهٔ او هميشه به ئې سوې لرگي تر ورانهٔ لاندې درلـل او کهٔ چا بـه سوال ترې وکړ چې دا څهٔ روش دے دهٔ به وفرمائيل چې درد لرم او واړه

اندمونه ئې خپل پخپله سوې وو. نقل دے چې يو پښتون په فاسد خيال د بادشاهي په طريق د فال و شيخ ته راغے په روښنائي د زړهٔ حقيقت ئې معلوم کړ وې فرمائيل چې اے نادانه کار د بادشاهي عظيم کار دے. هر کس لائق د دې کار نهٔ دے دا ئې ووې نور ئې هغه شخص وشاړهٔ.

ذکر دے اوولسم هغه مزرے د مرغزار د [۱۳۰۳] وحدت او نهنگ د درياب د صمديت شيخ د خپل وخت ميان مونا ناغر. ډير زاهد او مرتاض او مشغول په ذکر او فکر وهٔ. نقل دے چې يوهٔ سړي لکه شوې ورکه کړې وه. کهٔ هر څو ئې تالاش وکړ په لاس ئې رانغله. په دا نيتٔ چې آهو بيامومي په ملازمت د شيخ مونا ناغر راغے شيخ سر له مراقبې پورته کړ او نښان ئې د ورک څيز ورکړ نور ئې وفرمائيل چې پس له دا په دا رنگ سهل کار ازمئيل د فقيرانو بهتر نهٔ وي.

ذکر دے اتلسم هغه مقبول د حضرت يزداني واقف د اسرار نهاني عيسي مشواني. اصلي وطن د دهٔ په پرگنې د واصل کښې دے او په زميندارى کښې ئې حکم جاري وهٔ او هر چې به موجود شول په خرڅ به د سبيل الله مصرف شول. نقل دے چې يوهٔ وخت په عرض د شير شاه ورسول شول چې شيخ عيسيٰ مشوانے شراب خور دے. هر گاه چې شير شاه ډير مستقيم په شريعت وهٔ دا خبره ورته ډيره سخته ښکاره شوه يو له خپلو معتمدانو ئې واستوهٔ چې په ملازمت د شيخ لاړ شه. او دا حقيقت په [۱۳۰۴] تحقيق ورسوه هغه مرد په حکم د بادشاه په ملازمت د شيخ راغے وې ليدل چې صراحي او پياله ډکه پرته ده او څښني ئ. سوال ئې وکړ چې اے شيخ په دې صراحى کښې څهٔ دي؟ شيخ وفرمائيل هر چې په دې صراحى کښې دي تهٔ ئې هم وڅښنه هر گاه چې مرد صراحي په لاس واخسته او وا ئېړوله سپين صاف شودهٔ له صراحي راووتل. نور هغه شخص پسته شير شاه ته روان شهٔ او حقيقت ئې په عرض ورساوهٔ. نقل دے چې ميان شيخ عيسيٰ مشواني په توحيد د حق تعاليٰ شعر د پښتو او د فارسي او د هندکي وئيلے (۱) دے. (۱ الف)

مصنف د مخزن افغاني خواجه نعمت الله قصه د گزشته بادشاهانو د پښتنو او سرگزشت د دوې او د بزرگانو د هغه وخت تر عهد د همايون په قيد د قلم راوړے وه. (۲) په خاطر فاطر ورسيدل چې دا قصص په پښتو شي او هر چې پس له هغه سرگزشت د امرايانو د پښتنو دے او بزرگان اولياء الله ئې تير شوې دي هم ورسره ملحق شي.

ذکر دے په بيان د عارف معارف اولياء افضل فضلا و نجبا

[۱۳۰۵] زبده د ابرار قدوه د احرار مجددٔ الف ثاني اکمل طريق معنوي و صوري شيخ آدم بنوري قدس الله سره العزيز (۱) او تشريف فرمائيل مکې معظمې ته او مدينې مشرفې ته او

مصافحه يعني لاس نيول د حضرت مصطفيٰ ﷺ. اگر چې کشف کرامات او الهامات د دې حضرت له اندازې د تحرير او له احاطې د تقرير متجاوز دي او ډير کتابونه د دۀ د شريف احوالات مريدانو صادقانو په قيد د کتابت راوړي دي حقيقت د شرح بسط له هغو کتابونو بنۀ معلوميږي اما از راه تبرک لکه څاڅکے له درياب يا پرتو له آفتاب په ضبط د قلم په ربط د عبارت راوړل شي. مشت جو نمونۀ خروار. نقل دے پلار د حضرت ايشان چې ميان اسماعيل نوميدۀ په اصل مشوانے وۀ مشواني ځان ته ښيدان وائي نوکر د خان جهان لودي وۀ. عمده نوکري عزت حرمت قربت ئې ډير وۀ. هرگاه چې حضرت پيدا شۀ چې قابل د مکتب شۀ پلار په استاد وسپارۀ تعليم ئې د علم ظاهري ورته کاوۀ. الله تعالىٰ استعداد ازلي د دۀ روزي کړے [١٣٠٦] وۀ. په لږ مدت کښې علم ظاهري څو چې نصيب وۀ وې کړ. ورځ په ورځ آثار د رشد ترې ظاهريدل حتيٰ چې شهرت ئې د قابليت و خان جهان ته ورسيد. خان جهان لې پلار ته ووې چې فرزند دې تا قابل او رشيد اوريدۀ شي. رائ ولـه چې نوکر ئې کړو. پلار د حضرت ايشان ووې چې هنوز طفل دے په شغل د علم مشغول دے چې لوے شي له کسب د علم فارغ شي خود به د نواب په خدمت حاضر شي هٰذا القياس دا رنگ وار په وار د حضرت ايشان د قابليت خبر خان جهان ته ورسيد خان جهان ئې پلار ته ووئيل چې فرزند دې تا قابل دے را ئې وله چې نوکر ئې کړو. پس له درې ځلور ځله چې خان جهان تکليف وکړ حضرت ايشان پلار ورروست نوکر ئې د خان جهان لودي کړ. ورځ په ورځ ترقي د مراتب کيده قربت ئې ډير حاصل شۀ. په خاطر ئې وگرزيدل هر چې مدعا د دنيا وه حسب المدعا لکه خواهش د خاطر وۀ په لږ مدت وشۀ. کۀ طلب د معرفت د حق تعالىٰ مراتب د عقبيٰ وغوښتل شي او [١٣٠٧] همت په دې سعادت ابدي وگمارۀ شي يقين دے چې دا هم و فضل ته د حق تعالي سهل او اسان دي. نقل دے چې يوه ورځ ئې تاخت په گوارو کړے وۀ بت خانه ئې ورانه کړه بت ئې مات کړو بت پرست ئې مړ کړ. نس د هغه بت پرست چا څيرې کړ هغه بت د زيړو وۀ زړۀ د بت پرست په حب د هغه بت زيړ شوے وۀ. دا حال چې حضرت ايشان وليد وې وئيل چې دا کافر چې حب ئې په غلط دے هم خپل محبت ئې هومره تاثير کړے دے چې په صفت د خپل محبوب موصوف شوے دے يقين کۀ څوک عاشق د محبوب حقيقي شي او محبت ئې په رښتيا وي پُر به په معرفت او زړۀ به ئې منور په نور ازلي شي. نقل دے چې حضرت ايشان يوه شپه روان وۀ منزل ته تۀ اس به حضرت ايشان په پے د بهير روانوۀ اس به لار پريښوه مخ په ځنگل به تۀ. دوه درې ځله اس چې د حضرت ايشان دا رنگ حرکت وکړ جلب ئې پريښ اس مخ په ځنگل روان شۀ. په ځنگل کښې يو سپين ږيرے سړے ناست وۀ [١٣٠٨] چې

طریقه قادریه ئې درله ملاقات ئې د هغه بزرګ سره وشهٔ. هغه بزرګ ورته ووې چې تهٔ خو نهٔ راتلې اس راوستې. اوس دا دې تا امانت چې ما څخه وهٔ واخله ورځه. هذا القیاس دا رنګ د څوارلس واړو طریقو ارشاد حضرت ایشان له اکمل کاملانو واخست. په اخر غوث الاقطاب مونس اوتاد شیخ احمد کابلي ته راغې ډیر عنایت او مهرباني ئې پرې وفرمائیل. خپل خلیفه ئې کړ شهرت ئې ډیر وشهٔ. نقل دې چې څلور لکه مریدان ئې وو او تر دا زیات هم وئیلي شوي دي. په سبب د ډیر شهرت شاهجهان بادشاه په هراس شهٔ سعد الله خان (۱) او مولانا عبدالحکیم (۲) ئې ورته راستول چې دې ما د ملکه ووځه. حضرت مسجد ته ورغې کښیناست چې دا یم د بادشاه له ملکه ووتم نور په زیارت د مکې معظمې او مدینې مشرفې روان شهٔ چې په دکن ورغې اورنګ زیب په زیارت د حضرت ایشان ورغې. دعا لې ورته وکړه چې ورځه بادشاه شې. هرګاه چې طواف د مکې معظمې او مدینې مشرفې او نور زیارتونه ئې وکړ سعادت دارین ئې حاصل کړ [۱۳۰۹] دا مذکور به په خپل ځائې ذکر شي. پس له هغه په لږ مدت کښې هم په مدینه مشرفه کښې وفات شهٔ. قبر شریف ئې هم هورته دې. حضرت ایشان په نکات الاسرار کښې چې خود د دهٔ تصنیف دې راوړې دي چې دې ما پلار وئیلي دي چې یو وخت سرور عالم ﷺ ما په خوب کښې ولید چې میان د سراپردو د نور په کرسي ناست دي زهٔ ئې ځان ته وبللم خپل مبارک لاس ئې په خپله سینه وګرځاوهٔ لکه مرغوړې کړې هسې څهٔ ئې ماته راکړ. د حضرت رسول الله ﷺ په امر مې هغه هر څهٔ چې وو ما تر حلق تیر کړهٔ. حضرت ایشان وائي پس له هغه له شانه د پلار د مور په نس کښې مې خلقت وشهٔ او لا په طفولیت په عجائب بشارتونو او په غرائب اشارتونو مبشر وم. او له آفات د ځواني او د ناداني محفوظ وم او مرتبه مې اویسیه وه اما استاد کامل مې ظاهر نهٔ وهٔ.

ذکر په بیان د مصافحه. اګاه شه چې حضرت ایشان علیه الرحمة والرضوان نژدې و مدینې مکرمې ته ورغې له ذوالحلیفه په موجب د امر یا په متابعت د [۱۳۱۰] سنت اول مسجد قبا ته ورغې هرګاه چې ادابونه ئې د دې مسجد په ځائې راوړل پس له نمازپښین متوجه په مدینه مشرفه شهٔ. په دوه قدمه ئې دوه رکعته نمونځ ګزارهٔ. په شپه په ورځ کښې ئې درې میله لار غوځه کړه. په ډیر عجز په ډیر نیاز روبرو د پیغمبر ﷺ ودرید. پس له صلوته له تسلیماته ځواب ئې د خپل سلام واورید. پس له یوهٔ ساعته په ادب روبرو کښیناست په دولت د مصافحې د سرور کائنات ﷺ مشرف شهٔ. هرګاه چې تشریف ئې خپل ځائې ته وفرمایهٔ واقعه ئې د مصافحې یارانو ته بیان کړه چې هغه ساعت چې په زانو د ادب متوجه کښیناستم په سعادت د طالع آفتاب جهان تاب یعنې ظهور د سرور عالم مفخر بني آدم طلوع

وفرمايۀ مبارک لاسونه ئې مکرر دې ما په لاسونو کښېښول په دې نعمت ئې سرفراز کړم او دا هم حضرت ايشان وفرمائيل چې هم په دا مصافحه کښې چې يو لور بل لور مې نظر وکړ هغه مريدان چې لاس ئې دې ما نيولې دې او هغه چې لاس [۱۳۱۱] ئې واسطه په واسطه دې ما د مريدانو نيولې دې واړه حاضر دې او لاس مبارک د حضرت مصطفي ﷺ چې په برابرى د هر لاس لاس ئې له گريبانه د رحمت ايستلې وۀ. بيت:

لاس ئې په مثل د آفتاب وۀ　　تر آفتابه لا پرتاب وۀ
چې آفتاب درخشنده شي　　درست جهان پرې تابنده شي
څۀ عجب چې د دۀ لاس وۀ　　پاس په لاس د هر يو ناس وۀ

او حضرت ايشان وفرمائيل چې په دغه وخت مې اواز اوريدۀ چې وئيل ئې دا رنگ برگزيده کم راغلي دې او دا اواز د هغو فرښتو وۀ چې په روضه منوره موکلې دې.

مصافحه د باب الوقوف

يوه ورځ په زيارت د مسجد قبا لاړ وۀ او حضرت ايشان چې به په زيارت د زيارتونو تۀ پياده او پښې برمنډې به تۀ. هرگاه چې ورغے زيارت ئې وکړ او شرف ئې حاصل کړ چې راوجاروت په مسجد د روضه الجنة راغے. درود ئې وايۀ چې نژدې و باب وقوف ته راغے تسليمات او آداب ئې په ځائے [۱۳۱۲] راوړل په شرط د عبوديت متوجه کښيناست. (۱) خواب ئې د سلام واوريدۀ په مصافحه ئې سرفراز کړ او دولت جاوداني ئې حاصل شۀ. دوه ځله ئې تر دا پخوا سعادت د مصافحه روزي شوے وۀ. دريم ځل ئې په دا سعادت ابدي بيا ممتاز کړ او هم هغه ساعت ئې دعا په حق د مريدانو وکړه. ناگاه ئې حضرت مصطفي ﷺ وليدۀ چې مبارک لاس ئې په لاس د هر مريد چې په واسطه يا بې واسطه وۀ ايښے دے. او په تعجب ئې وفرمائيل چې تر دا زيات نعمت په باب د مريدانو څۀ چې ثقلين په آرزو د دې دولت سر په سجده دے او کونين په طلب د دې سعادت منتظر دے. هرگاه چې حضرت ايشان له حقيقت د مصافحه وپوښتيدۀ شۀ دا رنگ ئې بيان وکړ چې ښے لاس مې په ميان د دواړو لاسونو د حضرت مصطفيٰ ﷺ وليد اما په اول مصافحه کښې دواړه کتې گوتې د حضرت مصطفيٰ ﷺ د دواړو مبارکو لاسونو ولاړې وے او په دريمه مصافحه کښې دواړه منگلې زما د لاسونو په ښې لاس ئې محکمې نيولې وے.[۱۳۱۳] تر هسې حده چې ما وے ځائے د ادب دے کۀ لاس ځان ته وځکوم نۀ توانيدم. فرد:

چکد مشک تر از دستم چو آن گيسو بچنگ افتد　　دمد صبح از گريبانم چون آن مه در کنار آيد

حضرت ايشان اکثر په دولت د مصافحه مشرف کيدۀ اما په اظهار د دې دريو واړو مصافحو

شـایـد چـې مـامـور وهٔ یا په مقتضایٔ د آیت کریمه (۱)"و امـا بنعمة ربك فحدث" اظهار (۲) د نعمت د پروردګار وهٔ. (۳) یـا ئـې په اظهار کـښې مصلحت وهٔ. په دا چې عادت د الله تعالیٰ دا رنګ جـاري دے چـې کمالات او کرامات د خپلو اولیاؤ بې اختیار او په اختیار ترې ظاهر کا چـې رغبـت د طـالبـانو پیدا شي او مؤمنان ترې فائده بیاموي. حضرت ایشان فرمائیل چې په خـلیـریشتـم د رجـب الـمـرجـب په خپل وطن کـښې په قعدې د اشراق په حلقه کـښې د خپلو یـارانو ناست وم هم په دغه وخت سرور کائنات ﷺ روبرو ئې ظهور وفرمایهٔ خپل لاسونه ئې راکـړل او پـه دا مضمون ئې مخاطب کـړم چې هر څوک چې دې تا لاس ونیـسي هغهٔ لاس دې مـا ونـیـول. او پـه دا میـان کـښـې نـور د اجابت د حق تعالیٰ په میان د دواړو لاسونو د حضرت مـصـطـفیٰ تابان وهٔ. او [۱۳۱۴] او خپل مبارک لاس ئې په سینه او په سر په مخ په شا د فقیر وکـرځـاوهٔ. په خاطر مې تیر شول چې دا حقیقت و یارانوته ئې ظاهر کړم بیا ئې ووې چې دې مـا مشرب دا نهٔ دے او هم معامله د ولایت ډیر لیاقت په ستر لري نور مې بیان ونهٔ کړ. ناګهانه هم هغه ورځ زهٔ ئې له خانه بې خبر کړم. (۱) په میان د دې حال ئې بې اختیاره ګویا کړم. یارانو په مجرد د استماع دې ما په لاس نیول غلو وکړ په دا میان کـښې چې په هوش شوم خلق مې په خـان جمع ولید او برکات هر چې لیدوني وو وهٔ مې لیدل او مخلصانو هر چې موندوني وو بیا ئـې مـونـدل. اګـاه شـه چې تربیت د مشائخو رحمة الله علیهم په حق د مریدانو یا په دعوات د اسـمـاء یـا ورد پـه وظـیـفه یا په نظر د توجه یا په صحبت یا په واسطه د خدمت او د ریاضت په خلافت (۲) د طـریـقـه د حضرت ایشان چې د دهٔ مرید به په مجرد د لاس نیول په مطلب اعلیٰ او مقصد عظمیٰ مستفید او ارجمند شهٔ. او دا حال خاصه د حضرت ایشان وهٔ. اوس بیان د بعضې اشارات شي[۱۳۱۵] چـې بعضې د حضرت ایشان په مرقوماتو (۱) کښې لیدلي شـوي دي. او بـعـضـې کیف متفق له حضرت ایشان اوریدلي شوي دي. شیخ مسعود اوغیره قدس سرهم (۲) دا رنګ وئـیـلـي دي. چې حضرت ایشان علیه الرحمة والرضوان یوه ورځ په اوائـل د حال په قبرستانونو ورغـے ناګاه په یوهٔ قبر کښیناست دعا او توجه ئې وکړه پس له هغه ئـې ووئیـل چې دا بیچاره میت دې ما له متوسلانو دے په عجب عذاب په قبر کـښې ګرفتار وهٔ لـه دې مشـاهدې لاچار متحیر شوم. په تضرع او په نیاز مې التماس د دهٔ د مغفرت وکړ اما اثر د اجابت معلوم نهٔ شهٔ. مضطرب شوم وهٔ مې وې خداونده په خپل عزت دې ده. (۳) دا شخص دې مـا لـه مـریـدانـو دے په سبب د عصیان او د مذلت ئې په عذاب ګرفتار مهٔ لره نور مې دې قـسـم دې تـا پـه عـزت وې توبه مې وکړه چې په هیڅ یوهٔ بنده به دې تا له بندګانو (۴) په خپل اختیار تصرف ور نهٔ کړم. تهٔ هم هغه کس ماته راستوه او دې ما په وسیله ئې ثابت لره چې البته

پـه قـضـا مبرم له مغفورانو وي. پس له دې عهد آثار د اجابت [١٣١٦] له حق جل و علا او له حـضـرت مـصـطـفـيٰ ﷺ ظهور وفرمايهٔ او هغه مسكين پس له ډيري التجا له عذاب خلاصے بيـامونـد. يوهٔ له عمده ؤ مريدانو صادقانو د حضرت ايشان دا رنگ وئيل چې يوه شپه په كمال جـمـعيـت د بـاطن په خوب اودهٔ شوم پخوا تر صبح صادقه چې مؤذنانو د مكې معظمې په اوو وارو مـنـارو صـلـوٰت او تسبيح وايهٔ بيدار وم په مراقبې كښې په ميان د خوب او د بيدارى مې وليـدل چـې سـرور كـائنات ﷺ ظهور وفرمايهٔ از روئ خوشحالي په تبسم ئې حضرت ايشان مـخـاطـب كـړ وې فـرمائيل چې يا ولدي يعني اے (دې ما) خويه هر څوک چې دې تا په سايه كښې راغلي دي هغه دې ما د مرحمت په سايه كښې راغلي دي الله تعالىٰ په دا حال عالم دے.

او هـم هـغـه مـريـد وئيلي دي چې هغه زمان چې سرور عالم ﷺ حضرت ايشان په ښو خبرو مبشر او مخاطب كړ اواز مې اوريدهٔ چې دا رنگ ئې وئيل چې هغه څوک چې دې تا په طريقه داخل دے هغه ما وبخښنهٔ. دا رنگ راته معلوم شول چې دا هاتفي اواز له جانب د حق تعالىٰ وهٔ (٢) اگـر چـې [١٣١٧] دا احوال ما پخوا هم تجربه كړے وهٔ (١) اما دا ځل لا ښهٔ راته معلوم شـهٔ. بائده دي چې مخلصان صادق او طالبان موافق له دې قسم بشارت او له دې رنـگ حالت هيـڅ تـعجب نهٔ كا چې دا واړه و فضل ته د حق تعالىٰ اسان دي. ذٰلك فضل الله يؤتيه من يشآء والله ذو الفضل العظيم ذكر په بيان د حضرت ايشان د خوارق عادت اگر چې خوارق عادات د حـضـرت ايشـان تـر حـسـاب تير دي اما لږ څهٔ د هغو ډيرو كښل شي. شيخ ابو الفتح چې له خاصـه ؤ مـريـدانو د حضرت ايشان وهٔ دا رنگ وئيلي دي چې يوه شپه عجب درد راولاړ شهٔ چې د صـحـت طمع ترې كمه وه هيڅ علاج مې ئې نهٔ ليدهٔ. مگر دا چې متوجه حضرت ايشان تـه شم. حضرت ايشان ته حق تعالىٰ حقيقت د فقير معلوم كړے وهٔ. توجه ئې په صحت د فقير وفـرمـائيله. د صباح نمونځ دپاره چې مسجد ته د حضرت ايشان ورغلم حضرت ايشان از راه مهربـاني راته وفرمائيل چې هغه ساعت چې تهٔ هغه درد بې تابه كړے وے حق تعالىٰ [١٣١٨] تـه په دعا مشغول شوم زاري مې وكړه چې دا رنځ له تا نه واخلي اواز مې واوريدهٔ چې خيريت د دهٔ پـه دا كـښـې دے او فـائده په دې رنځ كښې دهٔ ته ډيره ده. ما گستاخي وكړه بيا مې ووې چې خداونده تهٔ قادر ئې چې بې له دې درده او رنځه دا فقير په خيريت د دواړو جهانو سرفراز كـړے. بيـا الهام راباندې وشهٔ چې مگر تهٔ تر ما هم په دهٔ ډير مهربان ئې چې په دا هومره زارى ئې صحت غواړے. نور مې دلاوري ترک كړه. تهٔ او دې تا رنځ مې حق تعالىٰ ته وسپارهٔ والله روف بالعباد و هو ارحم الراحمين. او دا هم شيخ ا_ الفتح فرمائيلي دي چې يوه ورځ په خپل مسجد كښې نمازديگر د خپلو يارانو سره په حلقه ناست وم چې په يوهٔ ځل بيا هغه درد راولاړ

شـۀ تـر هسې حده چې له شعوره ووتم او بیهوش شوم. حاضرانو وکتل چې مګر تر دنیا تیر شۀ بـارې پـه دا بیهـوشی کښې مې حضرت ایشان یو ځل یاد کړ نور فرصت د یادول هم راپاتو نۀ شۀ (۱) او هـغـه ورځ حضرت ایشان هم په سرهند کښې په مسجد کښې د خپل شیخ په حلقه کښې د یـارانـو [۱۳۱۹] پـه وخت د نمازدیګر ناست وۀ. په ډیر اضطراب ئې و حاضرانو ته ووئیل چې دا سـاعـت پیریانو و ماته خبر راورساوۀ چې ابوالفتح له دنیا تیر شۀ. بیا ئې زر لکه سترګې ځـنـبې وفرمائیل چې الحمد لله ساه پکښې شته. نور متوجه په صحت د فقیر شۀ. په تـوجه د حـضـرت ایشان هغه ساعت صحت لکه روح په بدن کښې د فقیر وګرزیدۀ. یارانو دا حقیقـت او تـوجه د حضرت ایشان په حق د حقیر (۱) وکیـښ رائ ستوۀ هغه رنګ وه لکه وکـتـل شول. او دا هم ابوالفتح وئیلي دي چې یوۀ خوان د یوۀ شخص لُور وغوښته مجلس ئې جـوړ کـړ حـضـرت ایشـان ئـې هـم از روئ تبـرک وبالۀ په حضور ئې د حضرت ایشان نکاح وتـاړۀ. پـس لـه څو ورځو په سبب د غلبې د شهوت یا از راه مصلحت دا ارتینه ئې پریښوه بله ئـې وکـړه. دا حقیقت حضرت ایشان ته ورسید. حضرت ایشان وفرمائیل هر چې ئې وکړۀ په خـان ئې وکړل. هر ګاه چې وقت د صحبت د هغه خوان راغے چې د نوې ناوې سره [۱۳۲۰] صـحبت وکـا نـامرد شۀ. له دې واقعې مضطرب او پریشان شۀ وپوهیدل چې دا اثر د هغې بې ادبـی دے یـعـنـې هـغـه نکاح په حضور د حضرت ایشان شوې وه ماتول ئې مناسب نۀ وو. اخر الامـر په ډیر ارزو ئې خپل معذرت وغوښت اما مقبول نۀ شۀ او په معذرت کښې به ئې دا بیت والـ :

کس دشمن من نیست منم دشمن خویش　　　　اے وائے من دوست من و دامن خویش

هـر ګـاه چې ورتـه مـعـلـوم شـول چـې معذرت مې نۀ قبلیږي په ډیر اضطراب یوۀ له محبانو و حضرت ایشان ته ورغے هغه ئې د ځان شفیع کړ نامه ئې وکښه را ئې ستوله. حضرت ایشان په سبـب د هـغـه شـخص د ډیر اضطراب او تشویش ترحم او مهرباني وفرمائیله. هر ګاه چې هغه شـخـص تـه تـرحـم د حـضـرت ایشان معلوم شۀ په سعادت د خدمت و حضور ته ورروان شۀ. حـضـرت ایشان هغه ځوان په طریق د مهربانۍ د ځان د وړاندې کښیناوۀ. پس خورده ئې خپله ورکـړه او پـه مبـارک لاس ئـې په زنګانۀ وواهۀ او تبسم ئې وکړ او وې فرمائیل ورځه په خپل [۱۳۲۱] کـار مشـغـول شه لیکن ګوره چې په سبب د ډیر شهوت بې تاب نۀ شے. پس له هغه هـغـه شـخص یوۀ یار ته ووئیل چې موافق د امر هغه شپه مې هومره عشرت وکړ چې یو ساعت بې کار نۀ وم. تر هسې حده بیتابه شوم لیکن بیا مې استقامت هم له حضرت ایشان نه بیاموند. خارق حضرت شیخ مسعود چې له احقر مریدانو د حضرت ایشان وۀ او همسال او همقرن د

حضـرت ایشان وۀ دا رنگ فرمائیلي دي چې د یوې ارتینې پیریان وو په سبب د پیریانو حمل یعني فرزند ئې په نس کښې قرار نۀ نیوۀ او کۀ احیاناً به ئې حمل ثابت پاتو شۀ خو چې فرزند به ئې تولد شۀ وبه مړ. له دې واقعې ډیره په تنگ راغله شکایت ئې له دې احوال حضرت ایشان ته یووړ. ترحم ئې په حال وفرمایۀ د هغې ارتینې کره ئې تشریف وفرمایۀ یو ساعت ئې توجه وکړه. دوه پیري خبیث حاضر شو یو دراز او بل په قد کوتاه وۀ. هرکله چې تصرف ئې وفرمایۀ اول پیزې د دوئ پریوتې پس له [۱۳۲۲] هغه ئې نور اندامونه ورژیدل. تر هسې حده چې درست صورت د هغو پیریانو اوبۀ شۀ. نیست نابود معلوم شول. پس له هغه هر بار چې هغې ارتینې واخست ثابت پاتو شول. په لږو ورځو کښې ئې فرزند تولد شۀ. خارق او هم شیخ مسعود فرمائیلي دي چې نژدې مسجد ځخه د حضرت ایشان لوے کوهے دے اوس هم تري خلق مستفیض او بهره مند دي دا کوهے له اوله چې کاندۀ شۀ. یوه ورځ استکاران او مزدوران په تلې کښې د کوهي په کندل د کوهي مشغول وو ناگاه حضرت ایشان له خپلې حویلۍ په اضطراب راووت وې فرمائیل هر څوک چې په کوهي کښې دي زر دې راوخي. موافق د امر هر څوک چې په کوهي کښې وو واړه از راه حیرت راووتل. په مجرد د راوتل ئې په دوه لوریه تمام کوهے پریوت اسباب د کوهي د کندو واړه لاندې شۀ. خلق د حضرت ایشان په اعلام له آفته خلاص شۀ شکر ئې د حق تعالیٰ په ځائے کړ. باقي حیات ئې د حضرت ایشان له طفیل وشمارۀ. خارق مرحوم میر منصور چې د بدخشان [۱۳۲۳] وۀ وئیلي دي چې په مدینه مکرمه کښې یو ځوان وۀ خوش آوازه په سبب د همسالگی و ماته راغے له وضعه له اطواره او له صورته او له گفتاره ئې ما معلوم کړۀ چې خواهان او طالب د علم موسیقی دے. هرگاه چې هغه ځوان په غږول د شپیلۍ زیرک او خوش کلام وۀ لاچار ئې مئین په صحبت شوم او ما هم په حال د دنیاداری او په ورځو د ځوانی مشق د علم موسیقی ډیر کړے وۀ او په قانون او مقامات او په حقیقت د پردو ئې نیک واقف وم په سبب د هغه یار د اشتیاق مې نقش د غاړې د آهنگ آغاز کړ. هغه ځوان دې ما په خوش اوازی او الحان عاشق شۀ. هم هغه ورځ په خدمت د حضرت ایشان په خلاف د عادت روان شوم. په مجرد دې ما د لیدل حضرت ایشان تبسم وفرمایۀ او واقعه ئې د نغمې په میان کښې راوړه په طریق د مطایبے او په اشارت او کنایت ئې تنبیه کړم. په یقین وپوهیدم چې دا راتلل دې ما په خلاف د عادت جذب د حضرت ایشان وۀ چې له دې کاره مې منع کا زر تائب شوم محجوب و خپل ځائے ته راغلم ناگاه هغه ځوان[۱۳۲۴] بیا و ماته راغے چې کۀ بیا اواز او نغمه واورې حقیقت مې ورته ظاهر کړ. دے هم په سبب د فراست او دانایی تائب شۀ او شوق مې ئې په لیدل د حضرت ایشان ولید

حضور ته مې راوست سعادت ئې روزي شۀ له خاصه مخلصانو شۀ. خارق يوۀ له خادمانو د حضرت اشيان دا رنګ وئيلي دي چې يو شخص په خدمت د حضرت ايشان راغې له پريشاني او تنګ دستي نه ئې شکايت او شکوه وکړه. حضرت ايشان ترحم په حال د دۀ وکړ يو موتيے غنم ئې ورکړۀ او ورته ئې وفرمائيل چې دا غنم په کندو کښې واچوه سر د کندو ليو کړه لاندې لوريه له موری نه غنم وکاږه اما له ډيره برکته ئې تعجب مۀ کړه. او کندو مۀ لټوه چې برکت به ئې لاړ شي. موافق د امر هغه شخص دا کار يو کال بلکې زياتې په عمل راوړ. هغه يو موتيے غنم نۀ تماميدل اخر ئې بې امرې وکړه يوه ورځ ئې په تفحص د غنمو سر دکندو پرانت په کندو کښې هيڅ نۀ وو. پخپله ئې له خپله لاسه غنم تمام کړۀ. خارق [۱۳۲۵] مخدوم ابوالفرح وئيلي دي چې يوه ارتينه ضعيفه عاجزه وه او د شهر بنور (۱) پرنور وه سترګې ئې په سبب د درد بې نوره شوې وے. هغې ارتينې ووې يوه ورځ مې په خوب وليدل چې يو بزرګ راغے راته ئې ووې چې علاج دې تا د سترګو خاورې د حضرت ايشان د مبارکو پښو دي کۀ لږې خاورې د هغه لار چې حضرت ايشان پرې ځي له هغه لارې واخلې په سترګو ئې پورې کړے صحت او بينائي به بياموے .له دې زيريه بې اختياره و قدم بوسی ته د حضرت ايشان روانه شوه خپله واقعه ئې حضرت ايشان ته بيان کړه. حضرت ايشان په دا باب تغافل وفرمايۀ په هر صورت هغې ارتينې خاورې د حضرت ايشان د قدم واخستے په سترګو ئې پورې کړے توتيا ئې د سترګو شوے. روښنائي او بينائي ئې بياموندہ. درد ئې د سترګو برطرف شۀ. خارق دا هم مخدوم ابوالفرح وئيلي دي چې يو له اکابرانو د بنور سخت بيمار وۀ قبائل ئې لاس له ژوندونه پريولل. خوے د هغه شخص بيتاب شۀ. [۱۳۲۶] په خدمت د حضرت ايشان راغے په ډير الحاح ئې حضرت ايشان کور ته بوت او سوال ئې د پلار د صحت ترې وکړ حضرت ايشان په حال د دۀ رحم وفرمايۀ وې وئيل خاطر جمع کړه صحت به بياومي. خلورو تنو ته ئې امر وکړ چې په خلور طرفه د کټ کښينئ درود لولئ چې صحت کلي بياومي. هغه رنګ ئې وکړ صحت ئې بياموند. دا رنګ ډيرو سختو بيمارانو د دۀ په توجه صحت موندلے دے. اما په سبب د روپوښي او ستر ولايت کله دارو کله دعا درود په حق د بيمار فرمائيل. خوارق د حضرت ايشان بې حسابه دي از راه تبرک لږ څۀ ترې وکښل شول.

ذکر په بيان د کراماتو د شيخ نسک خټک کرلاني

نقل دے چې شيخ نسک قدس الله سره العزيز په تيري پيدا شۀ شيخ ابابکر (۱) په خوست وۀ سلام ئې د ابابکر ولۀ شيخ ابابکر له خوست په ديدن د شيخ نسک راروان شۀ. چې په دره

ورغے خواب ئې د شيخ نسک د سلام ورکړ حسن مشر ورور د شيخ نسک وۀ. شيخ اباېکر ته ئې ووې[۱۳۲۷] چې خواب تا د چا د سلام ولۀ شيخ اباېکر ووې خواب مې د شيخ نسک د سلام ولـۀ. حسن ووې مونږ نوم د دۀ نسک ابنے نۀ دے. شيخ اباېکر ووې چې نوم د دۀ له حضوره د حق تعالىٰ نسک ديوانه دے. سلام ئې ماته چې زۀ په لرګين ځلې راغلم واچوۀ ما ئې اوس خـواب ورکړ. نقل دے چې مهمندي بنکار ته روان شول. شيخ نسک وته ئې ووې چې تـۀ زمونږ ديوانـه ئې زمونږ سره ځه چې يوه مصله او يو اړخ به تر برخې زيات و تاته درکړو. شيخ نسک ورسـره روان شـۀ. هرګاه چې د کرهړ په ډنډ ورغلل کاروان ئې وواهۀ اولجه ئې ډېره وکـړه شيخ نسک ورته ووې چې دا حرام دي پستنه ئې ورکړئ. دوې مال د اولجې ور نـۀ کـړ. شيخ نسک پـه دا سبب و بونير ته لاړ. اووۀ کاله ئې په تور ورسک تير کړۀ. اووۀ کـالـه په مهمنديو قحطي شوه دوې شيخ اباېکر ته ژړا وکړه چې قحطي ورک کړو. (۲) شيخ اباېکر ورته ووې چې شيخ نسک د تاسو د چولې (۳) مـنده وه ځو دے رانۀ ولئ هومره به په قـحـطـي کښې ګـرفـتـار يئ. پـس له هغه لـس کـسـه مهمندي و بونير ته لاړل. شيخ [۱۳۲۸] نسک ئې راروان کړ راځ وسـت يـو سير غوړي په کاله دوه غابنې خسې دوه بريځر پسۀ په رمه ئې د شيخ نسک نذر قبول کړ. په دې نذر دوې پښيمان شول. خسې له غواګ ورغومي له بـزو يـو د بـلـه جـدا شول. دوې يو د بله ووې چې دا ځۀ بلا ده. چا ورته ووې چې دا نقصان د شيخ نسک د نـذر دے، قبول کړئ نذر ئې هم ورکړ او صل ميږې نورې ئې هم ورکړے هالۀ هغه قـحطي ترې لاړه. او غوا خسې او بزې ورغومي يو د بله ورغلل. نقل دے چې نسک په تـور ورسک وۀ د بـونيـر خلقو ئې درې ځله خونه پټه کړه. صباح به بيا برمنده وه. دوې ورته ووې چې دا ځـۀ سبب دے چې مـونـږ خـونه پټه کړو بيا برمنده شي. نسک ورته ووې چې پيـريـان په رنځ د کوړ ګرفتار شوي وو و ما ته ئې التجا راوړه وته مې ووې چې يو خسرے دې مـا د خونې اخلئ خان ته ئې لوګے کوئ له دې رنځ به خلاص شئ. نقل دے چې نسک په تور ورسک په بونير کښې وۀ په غرۀ کښې د يوې چينې په غاړه ناست وۀ مزري ورته چار چاپيره پراتۀ وو لوپچيانو دا حال وليد کلي ته راغلل دا حال ئې ووې [۱۳۲۹] چې راشئ لاړ شو چې د هـغـه شـخـص خبر واخلو چې مزريو ځۀ کړ. دوې چې ورغلل شيخ نسک په غاړه د چينې پـروت وۀ مـزري هـورتـه نۀ وو. نقل دے چې شيخ نسک له تيري راغـے د پير پوې ئې واړول اس ئې وۀ دپاره ئې د خرشون و پښاور ته روان کړ. هرګاه چې په نوښهر ورغے اس ورله ووې اے نسکـه مـا مـۀ خرشوه. دې تا په اوومه ورځ يون له دې دنيا وې. جنازه به دې په شا دې ما وړۀ شي. بـراقـونـه بـه دې تـا ډېر وي ليکن دار د بي بي مريم چې ويشتۀ شي هغه دار په ما وله

شیخ نسک قبوله کړه. په اوومه ورځ له دنیا و دار بقا ته روان شهٔ. جنازه ئې د شیخ نسک په هغه اس کښېښوه هرګاه چې جنازه ئې و قبر ته ورووړه هغه اس غیب شهٔ. نقل دے له شیخ نسکه چې کهٔ چاته یو ضرور پېښ شي اووهٔ نسک خیل دې په خپل نغري کښېنوي موافق د خپل توفیق دې نذر ومني هر مشکل چې ورپېښ شي حق تعالیٰ به ئې اسان کا.

ذکر د پیر سباک د کرامات خوارق عادات له پیر سباک علیه الرحمة نه ډیر ظاهر شوي دي یوهٔ شخص د خپله پلاره[۱۳۳۰] نقل کاوهٔ چه د ما پلار په اټک کښې بندیخانه وهٔ پیر سباک پرې حاضر شهٔ د لاس و پښو ئې زنځیر پریووت. حاکم ته دا خبر وشهٔ. حاکم حیران پاتو شهٔ. سرو پائې ورکړ رخصت ئې کړ. دا نقل له بیاض د خان علیین دے. اګرچې کهٔ تفصیل لري اما مختصر ئې کښلے دے. دا نقل هم خان مشارُ الیه په خپل دستخط مرقوم کړے وهٔ چې پیر سباک وفات شهٔ. د دهٔ جنازه ئې و تېل لره واخستله په شریکیرې چې ورغے خلق پرې راټول شهٔ. د یوې ارتینې نته ورکه شوه. کهٔ ئې وغوښته نهٔ ئې مونده. هغې ارتینې یو خادم ته ووې چې تهٔ ئې هورې طلب کړه چې د پیر جنازه ئې و کوهاټ ته ووړه. خادم د جنازې ته ودریدهٔ. ګستاخانه ئې ووې چې یا پیره نته د هغې ارلینې په شریکیرې کښې ورکه وه و ما ته ئې وئیلي وو چې تهٔ ئې تفحص وکړه کهٔ غوا‌ړم نهٔ ئې مومم. هغه عورتینه به طمع داره وې. په دا وئیل کښې ناګاه د یوهٔ لوریه د سرو زرو نته راولویده ظاهره پریوته کهٔ ئې واخسته بعینهٖ هغه نته وه چې ورکه شوې وه. عورتینې لره ئې ورکړه. نقل دے له بیاضه د خان علیین[۱۳۳۱] مکان چې په خپل دستخط ئې کښلے وهٔ چې په تاریخ د اتلسم د خالي میاشتې عجائب څیز مشاهده شهٔ هغه د سنډا ښنګرے وهٔ چې طالب الدین د میان رحیم الدین خوې راوړ. نقل ئې دا وهٔ چې پیر سباک علیه الرحمة خوست لره د شاه اسماعیل په زیارت روان شهٔ. یو سنډا ئې هم روان کړے وهٔ. چې په قبر باندې حلال کا. په لارې په غرونو کښې د هغه سنډا یوه پښه هسې کانړیو ووهله چې ګډ شهٔ د تلو نه پاتو شهٔ یو مرید د پیر ورپسې راغلے چې پیره سنډا په یوه پښه ګډ شهٔ تلے نشي دې په حال کښې وهٔ وې وئیل چې میخ به خدائے ووهي په مینځ تنکي ښنګرې هسې میخ د اوسپنې وواههٔ شهٔ چې آو از ئې د ټک وهلو هم سرېو آرویدهٔ. میخ په طور د نعل میخ وهٔ په دا حال چې لیدهٔ شهٔ هم سرې به حیرانیدهٔ هزار حیله هونبره میخ نوتلے وهٔ چې په تنکي کښې بند وه. هیڅ شک ګمان په میخ باندې بې کرامت نهٔ وهٔ. دا نقل هم مشهور دے چې سردهي نومے خټک میره خیل د دهٔ مرید وهٔ اکثر به د پیر د خنګ کښیناستهٔ. یوه ورځ څوک د لرې ملکه د پیر سباک په دیدن راغلے وهٔ پیر ئې غلط کړ[۱۳۳۲] د سردهي لاس ئې ونیول چا آواز وکړ چې دغه پیر نهٔ دے لاس مهٔ د

سـر دهي ونيوۀ پير په حال کښې وۀ چې دې مريدانو ورته ووې چې پيره د تا او د سردهي ډيره په يـوۀ رنګ وه سـرې غـلـط شول. د دۀ ډيره ئې ونيوه. دۀ لره غيرت ورغے تر خلۀ ئې ووتل چې د سـر دهـي ډيـره دې وريـژي چې سرې پرې غلطيږي. په هغه زمان د سردهي ډيره هسې ورژيده چې ويښتۀ پرې پاتو نۀ شۀ.

مـنـاقـب او مـکـارم د شيـخ بهادر پلار بزرګوار د شيخ رحمکار[1]. يوه ورخ

کشمير نوميدۀ يو سړے وۀ. فرزند ئې قريب الموت وۀ ورته ئې راوړ چې دعا په باب د صحت وکا. شيخ بهادر موصوف په کرم وۀ خپلې کوړمې ته ئې ووې چې د خپل خوي سترګې تورې کـړه پـه ګـواره کښې ئې اودۀ کړه. کوړمې ئې حکم په ځائے راوړ. سترګې ئې تورې کړې په زانـګـو کښـې ئـې خـملاوۀ. پـس له يوۀ ساعت که مور خبر د خوي واخست فرزند ئې مړ وۀ حيرانه متفکره شوه. صبر ئې لاړ شۀ ژړا واويلا ئې آغازه کړه.[۱۳۳۳] پس له هغه شيخ ورته ووې چې صبر کـړه. پـه عـوض د دې فـرزند حق تعالیٰ کستير نوم ئې يعني شيخ رحمکار ور عـنـايت کړ. پس له يوۀ مدت شيخ تولد شۀ او فرزند د کشمير مذکور له هغه رنځه صحت بيا مـوند. نقل دے چې شيخ بهادر چې الحق بهادر د دين وۀ وخت د رحلت ئې نيژدې شۀ کوړمې مـعـلـوم کـړ چې زر بـه پـه جوار د حق مشرف شي په سبب د تشويش ئې خپله پريشاني ورته ظـاهـره کړه. شيخ ورته وفرمائيل چې صباح په نمازديګر پس وما د رحلت (به) څلور مرغونا راشـي پـاس پـه سر د دې خوانۀ د ونې به مخ په قبله کښيني مراتب د ولايت به په فرزند دلښا شيـخ رحـمـکـار مبارک کا. پس له هغه به والوزي. بايده دي چې هيڅوک په مرغونو غرض ونـۀ کړي. کۀ صبا دا مرغونه لکه ووئيل شول راغلل خطره د غم د الم (ئې) له خاطره برطرف کـړه پـه مضمون د دې ګفتار چې كَرَامَاتُ الاَولِيَاءِ حَقٌّ هر چې ئې فرمائيلي وو په ظهور راغلا الـحـق ولايـت د شيـخ بـزرګـوار شيـخ رحـمـکار په هسې مراتب ورسيد[۱۳۳۴] چې ژبه تـوصيف لـه بيـانـه د تـعريف مقصره ده. نقل دے چې شيخ بهادر قدس سره يوه ورخ ئې مېږ حـلال کـړي وو. يـو مـرد ورتـه حاضر وۀ په تلل ئې تلوار وکړه. پخوا تر خپلې حصې اخسـ روان شـۀ هـر ګـاه چې لـه خـدمتـه روان شـۀ څـۀ زمـکـه ئې غوځه کړه غوښې وريادې شوې افسـوس ئـې وکـړ چې ولـې مې حکم د شيخ په ځائے را نۀ وړ. حصه به مې خپله اخستې و هـر ګـاه چې ډيـر پښيـمـانـه شـۀ کرامت د شيخ عنايت وفرمايۀ. د دۀ بخرې غوښې له غيبه شـکـلين کاڼي ولګيدے هغه سرې هغه غوښې واخستے. په تحقيق وپوهيدۀ چې دا غوښې ه غـوښـې دي، شيـخ پـه افسوس او په ندامت دما عنايت او کرامت وفرمايۀ. غوړ د هغې غوښ کم و بيش صل کاله په هغه کاڼي ليدل شول. اوس هم چې څوک په هغه ځائے ورشي علام

د هغو غوړو ليدهٔ شي. شايد چې تر قيامت پاتو شي. نقل دے چې يوهٔ شخص په حکم د شيخ بهادر قدس الله سره العزيز روان شـهٔ غوايـهٔ ورسـره وهٔ. هر کاه چې خوب پرې غـالب شـهٔ[١٣٣٥] خصمانه ئې د مال د اسباب د ځارويو ونهٔ کړه. غل په بيول د غويو ورته راغے په خوب کښې ورته معلوم شهٔ چې غوايهٔ دې غل بيائي. له غيبه ګيتے په هغه شخص چې اودهٔ وهٔ ولګيدهٔ ويښ شهٔ. غل روسياه او خالي دست لاړ. هغه شخص په دا کار متحير او متعجب پاتو شهٔ چې دا مدد او استعانت له چا وهٔ چې کورته راغے له مريدانو د شيخ ورته معلوم شول چې شيخ په فلانه تاريخ په فلانه وخت په دغه لور کانړے غورزولے وهٔ. که حساب ئې د تاريخ وکړ موافق له هغه وخت سره راغے.(١)

ذکر د شيخ رحمکار ختک پښتون کرلاني: (٢)

نقل دے له فقير جميل بيک نه چې دے مريد د شيخ جيو وهٔ کامل (٣) په خپل وار به ذکر د دهٔ د کمالات هم راشي. انشاء الله يو کتاب مجموعه مشتمل په احوالات او کمالات د مشائخ متقدمين فقير جميل بيک په فارسي په خپل نام جمع کړے وهٔ معنیٰ دا دي چې مريد د شيخ رحمکار يم د خپل پير له احواله شمه بيان کوم دا چې هغه زاهد[١٣٣٦] له دنيا او له اهل د دنيا نه هغه ګوښه نشين ظاهر و باطن هغه عابد مجاهد چې له محنته او رياضته ئې آرام وهٔ او هغه عالم عامل چې علم ئې کنجي د عمل وه هغه مخلص تمام اخلاص هغه فقير غني حضرت شيخ رحمکار ختک کرلانړي رحمة الله عليه وړے تږے سوے په اور کښې د محبت الٰهي وهٔ. تمام اختيار ئې د خپلې لارې د قرآن د حديث د حضرت نبوي ﷺ ورکړے وهٔ. سر ئې له هوا هوس و نس د شيطان اخستے وهٔ. چې هيڅ اثر پکښې د دوې نهٔ وهٔ خپل خدائے ته ئې ځان سپارلے وهٔ او په دا کښې ئې آرام موندلے وهٔ. نقل کا چې اول بلوغ حضرت شيخ د خپل پلار چې شيخ بهادر نوميدهٔ مريد وهٔ. ابتدا تر انتها ئې عمر عزيز ضائع نهٔ شهٔ او وائي چې طريقه د شيخ جيو اويسي وه. د شيخ جيو د پلار بزرګي کرامات ډير دي شايد دا هونبره بزرګي د شيخ جيو له برکته وه چې دې لـه دهٔ پيدا دے او خوئ د حضرت شيخ دا وهٔ رموز ګوئ وهٔ نهٔ صريح ګوئ او اکثر خاموش وهٔ[١٣٣٧]او ګوشه نشين وهٔ. خبره بـه ئې په نرمي وه نهٔ په آواز بلند خندا ئې په قهقهه نهٔ وه ګاه چې به وهٔ تبسم به وهٔ يعني په شونډو کښې به وموسيدهٔ بې آوازه او ډير حليم او بردباره وهٔ. تر هسې حده چې کهٔ ماشے به ئې په اندام لګ شهٔ لاس به ئې ورو په نرمي وروړهٔ چې دے به پاخيدهٔ هالهٔ به ئې هغه ځائے ومبښ او په کتل په اوريدل په تلل ملائم وهٔ او په تلل کبک رفتار وهٔ او هم دوه قدمه تهٔ دريم نهٔ وهٔ يو تلل و مسجد ته او دويم له مسجده و خپل خلوت و حجرې ته او په حجره کښې ئې مصله د نمانځهٔ غوړولې وه فرض په مسجد او

نوافل په حجره کښې او په عبادت د حق تعالي مشغول وه. او ورېے د سخاوت په فقیرانو په مسکینانو وه هر گز موږ نه شه او موافق اهل سنت او جماعت وه او پخوا تر صبح صادق به و مسجد ته راتله. گاه گاه به پس تر صبح صادق و مسجد ته راغے. او بل خوک به پخوا تر ده و مسجد ته راتلے نه شه. گاه گاه چې به ئې نمونځ د صباح وکزاره په مسجد کښې به پاتو شه په علم په معرفت یا په تلاوت [۱۳۳۸] د قرآن یا فقه یا حدیث به مشغول شه. تر هغه پورې چې نمر به بلند وخوت مطالعه به ئې په خلة پټه کوله او کله به ئې شونډې خوزولې ورو ورو به ئې لوستل او څاښت نمونځ به ئې وکړ او یا به کور ته لاړ شه او یا به تر زواله په نفل نمونځ ولاړ وه او بیا به چې وخت د نمازپښین شه نمازپښین به ئې وکزاره یا لوستل یا ذکر او بیا به کور ته لاړ شه. نمازدیگر به بیا مسجد ته راغے نمازدیگر به ئې وکزاره او په مسجد کښې به وه او نماښام نمونځ به ئې وکزاره او په نفل به ودریده تر نمازخفتن پورې او نمازخفتن به ئې وکزاره یا به ئې په مسجد کښې نفل گزارل تر صبح صادق پورې او یا به ناست وه تر صبح صادق پورې او یارانو به ذکر کاوه او خود به خاموش وه. حرکت به ئې کاوه څو ژوندے وه په دا شان ئې زندگاني وه اما په دا ابتدا ئې په ذکر جلي حرکت کړے دے په اول حال که چا سعي به وکړه ضیافت لره به ورغے گاه به هسې تُند روان شه لکه راهوار اس نور عالم چې به ورپسې وه په دو به ورپسې رسیدل. [۱۳۳۹] که نه وے نه به رسیدل او څو ورځې به ئې هیڅ نه خوړل. پس له څو ورځو به ئې په شپه خوړل پس د څو مدت ئې په ورځ هم خوړلي دي غوړ به ئې هم خوړل. او په اورې په وخت د گرمی به ئې مالگه او په تودو اوبو گوشمال د نفس کاوه. د استوگې خونه به ئې د درمو د وښو وه او جامه ئې خیرې خیرې او روتې توکونه او پاجامه ئې د نوې خامتا وه. څو ژوندے وه دا ئې حال وه. کله به ئې یو څادر زوړ په اوږو وه او کم پټکے به ئې په سروو کله به ئې یوه لته کهنه پشمي یا پنبه داره په سر وه او میزریو څپلی به ئې په پښو وے او عمر عزیز ئې په دا پوشاک تیروو که چا به نوې جامه ورته راوړه څو وخته به ئې په غاړه کښې وه بیا به ئې فقراو ته خیرات کړه بیا به ئې خپله زړه واغوستله. او پښې به ئې اکثر په ژمي چاوډے وے له سردی او گوتې د پښو او پوندې او تلي به ئې پاره پاره وو چې ډیر نفل به ئې په ډیر ساړه کښې گزارل او هغه خایونه [۱۳۴۰] به د زخم وچ شوي وو. کله به سپینې اوبه او سپینې وینې به څنې بهیدلے. وینه د ده وچه وه له محبته د خدای تعالیٰ او زحمت ئې د سردی ډیر څکولے وه او صاحب وخت وه کله به ئې زنې مبارکه په وخت د گرمی هسې ریږدیده لکه په ژمي کله به ژمي هسې شان وه لکه په اوړې. او تمامه شپه به په ژمي په اوړې تر صباح په نمانځه ولاړ وه او کله به آسوده وه گوښے به ناست چې

بـه مـلامـت تـمامه شپه به ئې نمونځ نهٔ کاوهٔ لېږ به ئې وګزارهٔ څو ژوندے وهٔ دا ئې حال وهٔ. کله به ئې رنګ د مخ زیړ له نورو اندامونو سره کله به بیا په خپل رنګ په حال راغـے. حق تعالیٰ له خپـلـو دوستانو سـره سِر لرې بې د دهٔ له دوستانو نور څوک پرې نهٔ خبرېږي او په جمله ؤ بنو خویـونـو اراستـه وهٔ. په خپل عهد کښې ثاني د حسن بصري وهٔ. د سخا سیند وهٔ په ځان ئې نهٔ خوارهٔ په نورو به ئې خوارهٔ. قبول د خاصو عامو وهٔ. مرجع د خلائق وهٔ د دواړو جهانو ملک و دهٔ تـه حق تـعالیٰ عنایت کړے وهٔ. یو کال دے په خپل عمر مالک د نصاب [۱۳۴۱] نهٔ شهٔ. زکـات پـرې واجب نهٔ وه له مرداري دنیا ئې ځان پاکیزه بوت او مشفق مهربان وهٔ. له خلق الله سـره خـصـوصـاً له مـسـاکـینو له یتیمانو او کونډو او بیکسانو له قرضدارانو له مسافرانو متوجه په احوال د بـنـدیـانـو او ازادول بـه ئې بندګان او دا فریق به ئې ډیر نمانځل په ورکول د جامې د خـوراک د نـقـد د جنس طعام به ئې وریژې د خیرات هومره پخې کړے چې پوزې به ئې لوے پـریـولـل طعام به ئې له کټوؤ وکیښ او غورې به ئې لکه والهٔ پکښې جاري کړل او خلق به ئې پـرې کښیناوهٔ چې به ئې خوړل او د هیڅا منع په دا طعام نهٔ وه. هر څوک چې به راغـے خوړل به ئې او شکرې به ئې په وریژو اچولے او هومره غوا مېږونه بزې به ئې حلالې کړلے ورکولے به ئـې اومـهٔ پـاخـهٔ هـر چـې پاخهٔ وو خوړل به ئې اومهٔ به ئې کور ته یوړل. څو مدت به ئې هر یوهٔ خپـل کـور هـغـه غـوښـې خـوړے. بعضو به خرڅې کړے. په کلیو په بازارونو کښې او یو څو اسونه ئې هم حلال کړي وو. کهٔ چا به اوښ د دهٔ په خدمت راوست هم به ئې حلال کړ پوخ به ئـې کـړ. [۱۳۴۲] پـه مـسـاکـینو به ئې صرف کړهٔ او کله به ئې طعام په لرګینو شحنکیو کښې وکـیښ پـه هـغـهٔ کـښـې بـه خـلـق الله خوړل او کټوی خاورینې او ښحنکې لرګینې او کاسه یا خـاوریـنـه یـا چـوبـیـنـه ئې اختیار کړې وه او له سپینو لوښیو ئې احتراز کاوهٔ. کهٔ چا به آهني یا سپین ورلره راوړهٔ فقراؤ ته به ئې ورکړ او ما لره ئې دا تلقین راکړے دے چې له سپین لوښي او دیګ نـه لـرې اوسـه. مـونـږ فـقـراؤ ته خاکي چوبي بس دي او وینځې مریونه ئې ډیر ازادول څـوک بـه پـخپله ورلره راغلهٔ خاوندان به ئې طلب کړ بها به ئې ورکړه ازاد به ئې کړهٔ څوک بـه خپـلـو خاوندانو ورلره راوستل بها به ئې ورکړه ازاد به ئې کړل. محض په رضا د حق تعالې او درنـخـورانـو دارو وهٔ چـې لاس بـه ئې پرې وواههٔ شفا به ئې بیاموندهٔ او په مار چیچلي به ئې لاړې پـورې کـړلے روغ به شهٔ څو به دے ژوندے وهٔ زهر به د مار ښکاره نهٔ شول. چا به تبرک خـښـې غوښت په مالګه به ئې لاس کښېښول ور به ئې کړه. په طعام کښې به ئې خوړه الله تعالې بـه شـفا ورکړه. اګر چې لیوني سپي چیچلي وي. هغه مالګه کهٔ به ئې چارپائ ته ورکړه هم به ئـې شـفـا [۱۳۴۳] بیـاموندهٔ له کرامات د شیخ بیان شي. نقل دے له میان عـبـدالحلیم نه چې

فرزند د شيخ جيو وۀ قدس الله سره چې بوه ورځ حضرت ناست وۀ اودس ئې کاوۀ يو مريد هغه ځائے حاضر وۀ په هغه کوزه کښې چې اوبۀ د وضو باقي پاتو شوے هغه مريد ته ئې اشارت وکړ چې په دا اوبو اودس وکړه هغه مريد له هغه اوبو ځان ساتۀ حضرت شيخ په خپل لاس مبارک د دۀ لاس ونيوۀ کوزې ته ئې وروړ. هغه مريد اودس وکړ په مجرد د اودس کړۀ ډيره ترقي د مراتب ئې بيامونده. وائي چې تر هسې حده مې محبت په طاعت د باري وشۀ چې په قيام د نمانځۀ به ودريدم رکوع ته به راضي نۀ وم چې په رکوع يا سجود به شوم وې به مې چې تمام په قيام يا په رکوع يا په سجود صرف کړم اما بې ادا د رکوع د سجود د قيام نمونځ کامل نۀ کيدۀ ورځ شپه په عبادت مشغول وم په دا سبب مقبول د خاصو عام شوم. يوه ورځ بيا د حضرت جيو په خدمت حاضر شۀ حضرت شيخ جيو ورته اشارت وکړ چې خو سړے په لار د حق ليونے نۀ شي پس له هغه نور هغه [۱۳۴۴] مريد ديوانه وار کرځيدۀ لکه هلکان د درمو په اس به سوريدۀ هسې کارونه به ئې کړۀ چې خلق به پورې خندل. او شوق او محبت الٰهي به د دۀ لا زيات کيدۀ از جمله محبان الٰهي شۀ. له حاجي دريا خان نه نقل دے چې دے هم له مشانخو (با) کمالاتو نه دے ذکر به د دۀ په خپل وار راشي. نقل دے چې دے ملک د خپل کلي وۀ ملکي ئې کړه لکه دستور دے الله تعالیٰ په خپل فضل و کرم يو هسې وخت دۀ ته حاصل کړ چې بې له نمانځۀ او تلاوت قرآن په نور څۀ ئې ژبه بنده شوه. پس له څو مدته وائي چې حضرت شيخ آدم بنوري قدس الله سره ته ورغلم څو مدت مې د دۀ په خدمت کښې تير کړ مراد دې ما دا وۀ چې کۀ محبت مې د دنيا او اهل دنيا ورک شي اما ميسر نۀ شول. په وخت د مراجعت ئې له ما پوښتنه وکړه چې شيخ رحمکار خټک دورې په دغه ملک شته ما ورته ووې چې هو شته. زاهد گوشه نشين دے. په غرۀ کښې اوسي راته ئې وفرمائيل چې ئې وگوره دۀ لره ورشه. چې کور ته راغلم نيت مې وشۀ د حضرت شيخ د ليدلو [۱۳۴۵] چې راغلم دوې مې وليدۀ ډير د دۀ په ليدل په محبت مئين شوم. هرگاه چې څو مدت مې د دۀ په خدمت آمدورفت وکړ وظيفه ئې د کم خوراک راباندې امر کړه. اما نامشخص چې څو مقدار خوراک څو مدت دا وظيفه بويه. يو ځل په خدمت د حضرت شيخ جيو ورغلے وم بيا ئې از راه مهرباني کور ته رخصت کړم چې د يوسف خيلو کلي ته ورسيدم هغه شپه مې په خوب کښې وليدل چې پاس په منبر باندې ختلے يم او خطبه لولم. ناگاه يو شخص حاضر شۀ وې فرمائيل چې دا خطبه د حضرت شيخ رحمکار ده تۀ به په نهايت د دې ونۀ رسے. هر چې دې تا مراد دے هغه هومره ولوله هرگاه چې له خوب نه بيدار شوم محبت مې د دنيا تمام له زړۀ بيرون شۀ. خاورې سرۀ سپين زر راته برابر شول. او پوشاک مهين او مکلف راځني پاتو

شۀ. او ميل د زرۀ په جامه فقيرانه شۀ ليکن حضرت شيخ جيو وخت په باب دې ما وفرمائيل چې تاته قبا اغوستل مناسب دي چې بې له قبا به تۀ نۀ توانيږے. هغه زمان د شيخ جيو کلام راته[١٣٤٦] منظور نۀ شۀ ليکن پس له يوۀ مدته هغې خبر راباندې اثر وکړ. قباپوش شوم. له هغه معلوم شول راته چې دے په حال مناسب زما بنۀ پوهيدلے وۀ چې احتياج به دې ما و قبا ته شي. هالۀ زۀ په دا هيڅ نۀ پوهيدم. دا هم نقل دے له دريا خانه چې يو ورځ مې و حضرت شيخ جيو ته التماس وکړ چې يا شيخ پير دې تاسو څوک دے په خواب ئې راته ووې چې د حق تعالىٰ يو بنده وۀ چې هاتفي اواز پرې وشۀ چې بادشاهي د زمکې اخلے کۀ فقيري چې دې ما بندگي ده. خواب ئې ورکړ چې بندگي. بادشاهي قبوله نۀ لرم. دا د حضرت حاصه وه چې چا به ځنې سوال وکړ د کشف کرامات د تصوف د سلوک خاموش به شۀ. خواب به ئې نۀ ورکاوۀ. احياناً کۀ به ئې از راه مهرباني خواب ورکړ خپل احوال به ئې صريح نۀ ظاهروۀ. د بل بزرگ په نقل کښې به ئې تمثيل کړ. په هغه مثال به دانا وپوهيد چې خپل حال د بل په نقل کښې ادا کوي. څوک به پرې نۀ پوهيدۀ محروم بې بهره به پاتو شۀ. د مرغه په اواز مرغه پوهيږي. نقل دے د عبدالحليم نه چې يوه [١٣٤٧] ورځ يو شخص د حضرت شيخ په خدمت له لرې ځايه راغلے وۀ التماس ئې وکړ او ډير الحاح او مبالغه ئې وکړه چې توجه د حضرت شيخ له مانه دريغه وي. هغه شخص د شيخ جيو له خدمت شريف رخصت شۀ کور ته روان شۀ چې شپه شوه په خوب کښې ئې خوب وليدۀ هسې چې پکښې ورته معاننه شول چې له محبت د فرزندانو او د دنيا سرد شۀ. له هغه مکانه په بيارته د حضرت شيخ جيو په خدمت شريف راغے چې دوې وليدۀ په زمان مبارک ئې ورته وفرمائيل چې تۀ له ما رخصت شوے دې ما له خاطره هير نۀ وے. هغه شخص التماس وکړ چې يا شيخ ملاحظه لرم چې ليونے نۀ شم شيخ جيو ئې دلاسه او مهرباني وکړه ورته ئې وفرمائيل چې هيڅ ويره نشته. خير دے. هغۀ التماس وکړ چې ملاحظه لرم شايد دريم ځل ئې هم عرض وکړ. اما د هغه شخص تسکين خاطر نۀ کيدۀ پس له هغه شيخ جيو مبارک لاس په دۀ وښکاوۀ هغه حال له دۀ لاړ شۀ. هغه مرد په تمام يقين شۀ. پس له هغه ئې ډيره سعي بيا کوله فائده نۀ وه. ليکن دا هومره شۀ. [١٣٤٨] چې په خپل طاعت عبادت مشغول وۀ او قرآن خوان شۀ. تلاوت به ئې کاوۀ اوامر او نواهي به ئې په ځائے راوړل. نقل دے د عبدالحليم نه چې يو مريد د شيخ جيو پس د دۀ له وفاته ناقرار شۀ يو فاضل عالم لره ورغے سوال ئې ځنې وکړ چې زۀ مريد د حضرت شيخ يم او دے وفات شوے دے. کۀ زۀ بل پير لره د استفادې دپاره ورځم نو مضائقه شته کۀ نه. هغه دانشمند ورته ووې البته ورشه چې دې کار به له دوؤ کارو نه خالي نۀ وي يا به استفاده له

ژونـدي پيـر نه بيامومے مثل دے مړ مزري نه گيدړ ژوندے ښۀ دے. او کۀ نۀ وي شيخ جيو پير کـامـل دے. د دۀ لـه رويـه يو کار تاته ښکاره شي. هغه په وئيل د دانشمند عبد الله کوهاټي لره ورغـے چـې هـغـه زوررور خـليفه د دانشمندانو وۀ. هيڅ فائده ئي بيانۀ مونده له هغۀ نه. شيخ الله داد مندونړي خټـک هغۀ لره ورغے هوري هم فائده د دۀ نۀ شوه. په دا ميان کښې ئي يو خوب وليـدۀ چـې شيـخ جيو دوه غرونه په لاسو نيولي دي. په يوۀ لاس بل په بل لاس دۀ ته وائي چې رضـا دي ده چـې دا يـو غـر په عبدالله[۱۳۴۹] واچوم دا بل به په شيخ الله داد. هغه مريد وائي چـې دې مـا هـغـه وخـت د خـواب کار نۀ وۀ. بيا ئي دواړه له لاسه کښيښول وې وئيل چې ښه اوسـي دوي چـې عـالـمـان دي. بيا ئي دواړه غوږونه دې ما ونيول څير ئي کړل بيا ئي په خپل لاس پيـونـد کـړل. پـس لـه هـغـه ئي وماته ووئيل چې اوس په هر لور وردرومے وردرومه چې ښبـانـه دار شـوے. پـس لـه هـغـه مـحبـت مـې له عبدالله او شيخ الله داد نه کم شۀ. نقل دے له عبـدالـحـليم نه چې يو شخص وۀ د شيخ جيو په خدمت راغے. توبه ئي وکړه پخوا تر هغه د دۀ مـحبت باطني له يوې ښځې سره وۀ چې افعال شنيعه به ترې کيدۀ. پس له توبه بيا په يوۀ مکان پـه سبب سره ملاقي شول. د هغه مرد په دستور سابق شيطاني کار مل شۀ شهوت ئي ناقرار شۀ امـا هـغـه ښـځـه پـه دا خـبـر داره وه چـې دے مرد توبه د شيخ جيو په حضور کړې ده. ورته ئي ووئيـل چـې شـرم نـۀ لـرے پـرون توبه وکړے نن ئي ماته کړے. دا ئي ووې نور بې مراده ځنې روانـه شـوه. بيـا د شيـخ جيـو په خدمت حاضر شۀ. [۱۳۵۰] حضرت شيخ ورته وفرمائيل په ايـمـا پـه اشارت نسره چې اے فلانه کله د ښځو عقل پکار شي کۀ نه عقل د مرد وي نه د ښځې معلوم چې لاس به د شيطان بيا بر وۀ. هغه شخص شرمنده او خجلت زده شۀ. صريح وپوهيدۀ چـې الله تـعالیٰ دا احوال و شيخ جيو ته معلوم کړے دے. پس له هغه په کلي توبه گار شۀ. څو وۀ پـه نـژد د گـنـاه ونۀ گرزيدۀ. او متورع شۀ. او نورو خلقو هم احتياط وکړ چې چا به د شيخ جيو د وړاندې توبه وکړه بد به ئي نۀ کړۀ لکه خان علیين مکان دا رباعي وئيلې ده. رباعي:

پـه شيـخ رحـمـکـار مې تازه توبـه کـړه هـغـې مـعشـوقـې راتـه ښيـوه کـړه

زړۀ مـې هـر گـوره پـه انـديښـنـه شـۀ توبه مې بده وه کۀ مې توبه ښه کړه

نـقـل دے لـه عبدالحليم نه چې يوه ورځ مې له شيخ جيو نه التماس وکړ چې يا شيخ د تاسو پير څـوک دے راتـه وې وئيـل چـې درد دې مۀ وينم دا لفظ مخصوص د حضرت شيخ وۀ چې په کلام گهربار کښې به ئي و هر چاته وايۀ. پيري مې و پيرانو ته بخښلے و شيخي مې و شيخانو و سلوک مې و سالکانو [۱۳۵۱] دې ما غاړې ته ئي رسن د بندگی اچولے دے. بيت:

رشته اے گردنم افگند دوست مي برد هر جا كه خاطر خواه اوست

دا رسن مې د غاړې ونه شليږي. معلوم شول چې په مقام د عبوديت کښې وه. نقل دے له عبدالحليم نه چې يو وخت له اوقات شريف د حضرت شيخ دا وه چې وې فرمائيل چې تمام اولس خټک دې سر خانه يوه غوا په طريق د خيرات راولي چې بها ئې څه چې بيا له ما غواړي ورېه ئې کړم. د شيخ له امره د چا چاره نه وه هر چا غوا راوستے تر هسې حده چې روزمره شل ديرش غوا حلاليدے بلکې تر څلويښت څو مدت په دا تير شه. په دا ميان کښې يو طالب علم وه چې نقل ئې ياد لرم چې ده به وئيل دې ما په خاطر کښې ډيره خطره تيريده چې دا ظلم دے چې حضرت شيخ ئې کا. يوه شپه مې خوب وليده چې شيخ جيو له اتو کسو سره ناست دے. ماته ئې اشارت وکه دا پيژنے څوک دې زه ورته عرض وکړم چې نه ئې پيژنم راته وائي چې دا يو نوحٌ نبي دے او دا نور هم نبيان دي. مونږ چې دا خيرات کوو د دوی په [۱۳۵۲] حکم ئې کړو. او په خپل فکر ئې نه کړو چې عالم له خوب بيدار شه وپوهيده چې د شيخ جيو کار له حکمته خالي نه دے. دوه غوا ئې له خپله ماله شيخ جيو ته راوستے. حضرت شيخ د هغو غواو امر په ذبح وفرمايه حلالې ئې کړے. نقل دے چې يوه ورځ حضرت شيخ ته محبت او استغراق دامنگير شه. هغه ورځ ئې شپيته غوا د شوق له مخه په رضا د خدایٔ تعالي حلالې کړے. د الله په محبت کښې لکه ديگ هسې جوش ئې کاوه ناست وه. ناگاه شهباز خان چې خان د خټک وه راغے په خدمت د شيخ مشرف شه. شهباز خان چې دے په دا حال وليده مريد ئې وه خاص او سخي وه نهايت. وائي چې درې خله ئې کور تمام په رضا د خدایٔ تعالي د شيخ په معرفت خيرات کړے وه. يو اس ئې عراقي وه چې د ده تر سوارې لاندې راغلے وه هغه اس ئې ورته راوست په رضا د خدایٔ تعالیٰ ئې د شيخ تر نظره تير کړ. شيخ جيو د هغه اس امر په حلالولو وکړ. په دا مينځ کښې بعضو علماؤ ووئيل چې يا شيخ بهتر دې که دا اس خرڅ شي په دا مبلغ به خيرات تر دا زيات وشي. حضرت شيخ دا خبره قبوله نه کړه. [۱۳۵۳] وې فرمائيل چې دې ما پيداوښت خدایٔ تعالیٰ د سوداگرۍ دپاره نه دے کړے. ملاحظه لرم چې په خرڅول د اس به سوداگر شم حکم ئې وکړ اس ئې حلال کړ. شهباز خان په خپل لاس حلال کړ غوښې د هغو غواؤ پخيدے اومې غوښې هم ډيرې پرتې وے. ناگاه و شيخ جيو د څنگه د يوه سړي له لاسه کټوه ډکه ماته شوه. شهباز خان چې هغه ځائے حاضر وه هغه شخص ئې ډير ملامت کړ. شيخ جيو د تسکين دپاره وفرمائيل چې هان دا کټوې واړه ماتوئ. په مجرد د حضرت شيخ د فرمائيلو حاضرانو غلو وکړ. کټوې ئې ماتولے اومې پخې غوښې ئې په تاراج يوړے هسې شور وغوغا د خلقو پيدا شوه چې له هيبت ئې هلکان ارتيني د کلي چې په دا حال خبر نه وو غرۀ ته په گريز شول چې گوره څه فساد پيښ

شـۀ. حـضرت شيخ په مبارک کلام وفرمائيل چې په دا هنګامه کښې ديوان پيريان هم حاضر شـول هر چې د هغو غواږ وينې يا ليږشن په هغه ځائے پريوتے وۀ هسې پاک شۀ هغه ځائے چې ګـويـا هيـڅ نـۀ وو. او اکثـر اوقـات بـه د حضرت شيخ په خيرات باندې هومره عالم غلو شۀ. [۱۳۵۴] چې د حسـاب کار به نۀ وۀ لکه مرغې په وخت د نماښام غلو په ونو وکا اواز سره کا خـوک پـرې هيـڅ نـۀ پـوهيـږي. دا بـه هـم سرے هيڅ نۀ پوهيدۀ چې څوک څۀ وائي او اکثر اوقـات به شيخ جيو غوا ميږونه جمع کړل او په کټوۀ کښې به ئې غوښې د دوې واچولے کم و بيـش پـنـځـوس شپيتـۀ کـټوے به شوے او پخولے به ئ. چې پخې به شوے نور به ئې فقراؤ او مسـاکـيـنـو تـه ورکـولے او نـور انـبوه خلقو ته به ئې دا نورې غوښې ورکولے او ګاه ګاه به ئې مـريونه د اولس جمع کړۀ وبه ئې بلل په غوړو په وازدو به ئې مړول او اکثر شفقت او مهرباني د شيـخ جيـو پـه مسـکيـنـالـو پـه فقراؤ او عاجزانو وه. او هغه چې به مردود د خلق وو و دۀ به محبوب او مقبول وو. رباعي:

خـوار د خـداۓ مې بهتـر د خـلـق	لـه ځـانـه پـرې کـړه باور د خلق
کۀ خپل د خداۓ ئې په حقيقت کښې	مؤمـن د خـداۓ شه کافر د خلق

او ډير خيرات تصدقات به د حضرت شيخ په قحط سالئ کښې وو. اګر چې کۀ هميشه به ئې خيـرات او تـصـدقـات جـاري کـړۀ ليـکـن په قحط سالئ کښې[۱۳۵۵] به ئې تر آباداني تر ارزانـئ زيـات کـاوۀ. نـقـل دے چې يو وخت د حضرت شيخ امر وشۀ مريدانو ته ئې زر روپئ حـوالـه کـړے چې وريژې د خيرات دپاره راوانړ. په موجب د امر د زرو روپيو خريد د وريژو جـمـع شـۀ. پـه يـوه شپه امر د پخولو وشۀ. هغه وريژې په کټوۀ کښې پخيدے او شيخ درسته شپـه د نـفل په نمانځۀ تر صباح قائم ولاړ وۀ چې صباح شۀ هغه هومره خيرات واړه عالم په يوه شپه تر صباح څۀ اوم څۀ پوخ لوټ کړ. کم څۀ پاتو وۀ يو شخص التماس وکړ چې يا شيخ همه خيـرات عـالم په تاراج يوور. لږ څۀ پاتو دے په خواب ئې په زبان مبارک وفرمائيل چې زمونږ مـراد هـم دغـه وۀ او چـې پـه عمل راغے خکه مو حکم د پخول په شپه وکړ. نقل دے چې يوه ورځ يـوۀ شخص التماس وکړ چې يا شيخ دې تا له خيرات ډير عالم په غلا وړي او خوري ئ. د دوې حـال بـه پـه قيـامـت څـۀ شـي وي وئيـل چې زمونږ خيرات د خلق د نفع دپاره دے نۀ د مؤاخذه دپاره. اکثر حضرت شيخ به[۱۳۵٦] د خيرات دپاره ډير قرض حسنه واخست چې عـقـل بـه د خـلاصـې تـقـاضـا نـۀ کړه اما په لږ مدت کښې به هيڅوک ونۀ پوهيدل چې بيا به خـلاص شـۀ. بيـا بـه ئـې نـور کـاوۀ. بيا به ئې خلاصوۀ. نقل دے چې يو وخت حضرت شيخ له اميرانو او منصبدارانو قرض وغوښت د خيرات دپاره هر چا موافق د حال تر زرو روپيو چا څۀ

کـم چـا زيـات ورکړ. مور د حضرت شيخ څخو پکښې غمگينه شوه چې دا هومره قرض بيا د اميـرانـو زوروررو دا بـه څهٔ رنګ خلاصيږي او کهٔ نهٔ شي خالي به له تصديع نهٔ وي. يا دهٔ وته يا ئـې اولاد وتـه. يو ملا وهٔ بزرګ ورته ئې ووې چې تهٔ د حضرت شيخ په خلمت التماس وکړه يـوځـو مريدان وو هغه هم د هغه عالم سره رفيق شول. التماس ئې وکړ چې يا شيخ کهٔ دا قرض ادا نـهٔ شـي خـالي به له تصديع نهٔ وي. شيخ جيو په هغو مريدانو ډير اعتراض وکړ وې فرمائيل چې کـهٔ نور څوک زمونږ په بدی راپاڅي بويه چې مريدان زمونږ حمايت کا دا زمونږ پښو ته ګيـتـې اچـوي. هـغه عالم هيڅ ونهٔ وئيل[١٣٥٧] هغه پکښې تنګ شهٔ التماس ئې وکړ چې يا شيـخ دي تـا د والـدې په سبب مې دا جرأت وکړ کنه مصلحت هغه بهتر دے هر چې حضرت شيخ ئې کا. نقل دے چې يو وخت د حضرت شيخ جيو ذوق وشهٔ چې بنده به ئې ازادول بنده چې بـه پـه دا ملک روه کښې په افغانستان کښې شيخ جيو لره فريادي دادي د ازادول دپاره راغـے په دهٔ باندې به ئې ګويا خلاصے لازم شهٔ. اکثر به ئې بها ورکړه بعضې چې خاندان به ئې نهٔ راضي کيـدل چې غبن فاحش يعني په ډير بها نهٔ ئې واخست ازاد به ئې کړ. له شيخ ملي چې لـه مريـدانـو خاصو د حضرت شيخ وهٔ نقل دے چې درې زره بنده ئې په درې کاله کښې ازاد کـړل والله اعـلـم چـې يـا کـم يـا بـه زيـات وي. چې قيمت به د بنده مشخص شهٔ خاوند به ئې واخسـت بـعـضـې ته به ئې تر قيمت زيات څهٔ ورکړل په دا سبب چې رضامند او خوش وقت شـي. نـقـل دے چې يوه بنده راغـے د حضرت شيخ په خدمت التماس ئې وکړ چې کهٔ حضرت تـوجـه وکـا آزاد ئـې کا. حضرت شيخ مالک د هغهٔ طلب کړ[١٣٥٨] يا راغـے مالک ته ئې اظهـار وشـهٔ قبـول ئـې نـهٔ کـړ. شيخ جيو مبالغه ورسره ډيره وکړه از بس مبالغه مالک د بنده التـمـاس وکـړ چې يـا شيخ کهٔ خواه ناخواه او تهٔ عاشق د خدائ دو صو اتيه اديلې چې همه په ضرب او په سکه د کابل وي دا زمان راکانږ دا بنده ستاسې کهٔ نهٔ وي نور امکان د خرڅولو نهٔ لـري. حـضـرت شيـخ وپـوهيـدهٔ چـې دا مالک د بنده په دا کار بجد دے بې د کاره خرڅول نـامـمـکن دي خپل کور ته ورغـے هغه شان مبلغ لکه څنې طلب وهٔ راۍ وړل هغه شخص ته ئې ورکـړل. يوه اديله پکښې کمه وه. امر ئې وکړ چا مريد ته چې په کلي کښې دا يوه اديلې پيدا کـانږ چې په دا صفت وي هغه شخص ته ئې ورکانږ. شيخ ملي مريد ورته عرض وکړ چې يا شيخ دا هومره اديلې پيدا شوي دي د کابل په سکه دا يوه اديلی نهٔ پيدا کيږي په دا کلي کښې عـجب کهٔ دا رنګ پيدا شي اخر معلوم نهٔ شول چې له کوره يا له بيديا ئې پيدا کړه ور ئې کړه امـا اوريـدلـې شوي دي چې هغه هم شيخ جيو له کوره ورکړه.[١٣٥٩] هغه بنده ئې ازاد کړ. مـعـلوم شـول چـې دا هم د شيخ جيو له کرامتو نه وهٔ. نقل دے چې حضرت شيخ رياضت ډير

خوړ پـه دا ميـان کښې يوه ورځ والدې مشفقې د حضرت شيخ جيو په کور کښې څهٔ کالے نهٔ مـوندهٔ غـوښـت نـې هغه کالې شيخ جيو وليدهٔ اما دهٔ خبرې نهٔ کولے ور پاځيدهٔ چې دا څيز دا طلب کوې نهٔ ئې مومې زهٔ ئې وروښيم از بس محنت د مشقت رياضت هسې ضعيف شوے وهٔ چې پـاځيدهٔ پرې ووت بيتاب شهٔ بلکې بيهوش شهٔ. والدې مشفقې وليدهٔ په الحاح راغله چې دا څـهٔ شـهٔ مـګـر د ديـو د پيرې سايه پرې وشوه. اخر چې دے په هوش راغـے هورته ئې ووئيل چې مـوړے نـور هيـڅ شـوے نهٔ يم هغه کالے چې تا طلب کاوهٔ ما ليدهٔ پاځيدم چې در وښيم له ضـعف دا حـال راپيـښ شـهٔ. هغه کالے ئې ور وښيهٔ. نور هميشه به له کوره ووت په صحرا به لاړ شـهٔ. والـدې بـه ئـې سـرې پسـې واستـول د دهٔ پـه طـلـب د دهٔ پـه خبر او شپه به د ژمې په [۱۳۶۰] سـړو اوبـو کښـې نـاست وهٔ. تر دا حده چې يخ به د اوبو د دهٔ په مبارکه غاړه کښې حـلـقه پريوت او چې تهجد نمانځهٔ ته به پاځيدهٔ له اوبو هغه جامه به لې لچوړ کړه نمونځ به ئې کـاوهٔ. نـقـل دے چې حـضـرت شيخ ابتداء حال له موره له ورونو سره مصلحت وکړ چې کهٔ تـاسو دنيا ساتئ ماته رخصت راکانئ. او کهٔ اختيار د دنيا ماته راکوئ زهٔ له تاسو سره يم. دوې مـصـلـحـت سـره وکړ د دهٔ جدائې پرې ګرانه وه اختيار ئې د دنيا د مال ورکړ وائې چې اويا مـړونـه او ديرش غوايهٔ حلال کړ يو اس هم د حضرت شيخ وهٔ خو پرې سور شهٔ په لوے ميدان نـې وزغـلاوهٔ هغه ځائے خنې کوز شهٔ پخپله ئې حلال کړ نور ئې په هغه ځائے پريښ. يارانو ته نـې وفـرمـائيـل چې تاسو په دا اس غرض مهٔ لرئ دا د ددانو ضيافت دے. نس ئې د اس ځيرے کـړ پـه ځائے ئې پريښ خنې لاړل. نقل دے چې حضرت شيخ په ډکه ګيډه طعام مکروه ګاڼهٔ. نـهٔ بـه ئـې خـوړ بـعـضې وخت به ئې وظيفه دا وه چې تمام مياشت چې ديرش ورځې ده ديرش سيـره غوړې به ئې طعام سره لکه سير غوړي[۱۳۶۱] روزمره خوړل او په تمامه مياشت به ئې د صبـاح نـمـونـځ وکړ په هغه اودس به ئې د نمازخفتن نمونځ کاوهٔ. پـس د هغه چې دا مياشت تيـره شـوه حـضرت به د وظيفې تعريف وکړ چې ښه مياشت وه ښه وظيفه وه. نقل دے چې اتهٔ لـس مياشتـې ئـې طـعام نهٔ وهٔ خوړلے او يو کال به ئې اوبهٔ نهٔ وڅښلے او اخر حال ډير خله ئې دوه مياشتې به طعام نهٔ خوړ او وظيفه د طعام خوړو د حضرت شيخ دا وه چې څو مدت به ئې د اوربشو روټۍ خوړه کله به ئې څو مدت نوره غله خوړه. نګولے ئې د روټۍ سره مالګه وه چې بـه ئـې خوړه. او روټۍ به ئې نرۍ او سخته پخوله چې په ميان کښې به د هغې روټۍ مغز نهٔ وهٔ او لـذيـذ طـعام ئې هم نهٔ خوړ مګر د بل په خاطر په مبالغه چې په هغه طعام د هيچا نظر شوے نهٔ وهٔ وبـه نـې خـوړ. امـا پـه مړه خيټه ئې هرګز نهٔ خوړ. يو ځل يو امير له اميرانو د هغه وخت په خدمت د شيخ ورغـے شيريني ئې د بازار تر نظر د حضرت شيخ تيره کړه. التماس ئې وکړ چې

امیدوار یم چې دا شیریني دې ما په خاطر حضرت شیخ دې نوش جان وفرمائي. [۱۳۶۲] شیخ په خاطر د هغه امیر کم و بیش په خلهٔ کړه اما وې نهٔ خوړه بلکې شیریني ئې هم تر حلقه مبارکه تیره نهٔ شوه. په څادر ئې خلهٔ پاکیزه کړه تر هسې حده ئې د ژبې په پاکیزول مبالغه وکړه چې په هغه سبب لوړے ازار و شیخ ته ورسیدهٔ. او هغه امیر په دا حال خبر نهٔ شهٔ هغه وخت تیارهٔ وهٔ. د نمازخفتن وخت نژدې وهٔ. دا په دا سبب وهٔ چې حضرت شیخ له خوړلو د طعام بازار اجتناب درلهٔ او له خوړلو د طعام لذیذ په دستور د شیخ جیو له مریدانو نه یو وهٔ چې له خپله حاله ئې بیان کاوهٔ او قسم ئې یاد کړهٔ چې هغه شپه دې ما کړه هیڅ نهٔ وو او عیال اطفال دې ما فاقه وو هغه شپه زهٔ ډیر خوشحال وم او له لوږې او له برمنډې ورځې مې هیڅ ویره نهٔ وه. او وسواس نهٔ شې. یو بل مرید وهٔ چې کوزه ئې خالي د شیخ جیو د کور څخه د ونې په ډکې پورې اویزانده کړه دا به ئې وې چې الٰهي ما په دنیا کښې خوار او ذلیل کړے په مثال د دې خالي کوزې شم. شیخ فتح یو خاص مرید وهٔ د شیخ جیو په خلوت کښې به مارونه راغلهٔ دے به ئې وچیچهٔ هغه مارونه به نهٔ دهٔ [۱۳۶۳] وژلهٔ نهٔ به ئې بل پرېښن چې به ئې وژلے او د هغو مارونو له زهره ئې به ئې ویني قے کولے او په هغه خوارۍ خوبن وهٔ او له هغه ځایه پانهٔ څیدهٔ هم له هغه مریده مذکور دے چې یوه ورځ تور مار په وخت د دهٔ د نمانځهٔ راغے سر ئې د دهٔ په سجده ګاه کښېښن چې دے په رکوع شهٔ متوجه په سجده هغه مار سر له سجده ګاه وغړاوهٔ بیا چې دهٔ سر له سجدې پورته کړ مار بیا سر په سجده ګاه د دهٔ کښېښن. دوه درې خله ئې دا مبالغه وکړه اخر روان شهٔ سوړې ته. اما د دې مرید په خاطر هرګز ویره او وسواس ونهٔ شهٔ. دا هم نقل دے چې شیخ فتح ته په پرانګونه لیوان د غرونو راتلل د دهٔ دیدن به ئې کاوهٔ. بیا به خپلو ځایونو ته تلل. هرګاه چې حال ئې د مریدانو دا هسې دے حال به ئې د پیر لا هسک وي. چې پیر په مثال د دیګ دے مرید په مثل د څمڅې. هر چې په دیګ وي په څمڅې بیرون راځي. هغه سوز او جزمات الٰهي چې په سر د زړهٔ کښې د پیر امانت ایښے وي مریدانو ته ئې له هغو بخره رسي په قدر حال د هر یوهٔ. نقل دے چې یو شخص وهٔ تل به په خدمت د حضرت شیخ [۱۳۶۴] راتهٔ یوه ورځ ئې ورته وفرمائیل چې دا شخص چې ماله رادرومې مراد ئې حق تعالیٰ دے هغه شخص په خپل عمل کښې درست نهٔ وهٔ شرمنده شهٔ. په خاطر ئې تیر شول دې ما کوم عمل د خدائ طلبی دے. پس د حضرت شیخ د وفاته چې وفات شهٔ په خوب کښې په هغهٔ ظاهر شهٔ ډیره مهرباني ئې وکړه پرې باندې او هغه شخص له کاملانو شهٔ او حکم ئې پرې وکړ چې فلانه ځائے اوسه. پس له مدت هغه شخص ته بیا یوه خطره خاطر ته ورسیده چې مګر دا خوب شیطاني وهٔ بیا حضرت شیخ ورته حاضر شهٔ وې

فرمائیل چې له هغو کسانو څوک برابري کا چې خدائ د هغو وکیل دے. د هغه مرید هغه شبه بدره شوه. او هغه شخص هورته سکونت او ارام ونیوهٔ. کم و بیش اووهٔ کاله له خلقه کناره او همیشه رنځور او بیمار وهٔ لکه فرمائیلي دي "اشد البلاء موکل بالانبیاء ثم بالاولیاء" (۱) او دهٔ خود له خانه حکایت کاوهٔ چې زهٔ په دا رنځ کښې په مثل د طفل وم چې په اول زوول ئے واخلي پس له هغه کښیني بیا پاځي نور لږ لږ قدم واخلي او ماته په مثل د طفل دا کارونه پیښ شول. او په دا اووهٔ کاله[۱۳۶۵] کښې په ما باندې غلبه د حال وه او حضرت شیخ به همیشه سعي او مهرباني او توجه فرمائیله ځو خاطر شریف د شیخ جیو له ما جمع شهٔ چې رفیق شفیق به ستا اوس ظاهر شي او دا کنایت له وصال د حق سبحانه تعالیٰ وهٔ او هم هغه شخص بیان کاوهٔ او وئیل ئې چې حضرت شیخ درې خله التماس په عرض د رؤیت د رسالت پناه ﷺ ورساوهٔ دریم ځل ئې رتبه د قبولیت بیاموندہ او خود مصطفیٰ بدر الدجي ﷺ په ما باندې تشریف شریف وفرمایهٔ او زهٔ ئې په خپل دیدار معظم او مکرم کړم. او بعضې اصحاب رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین هم په خدمت د حضرت مصطفیٰ ﷺ حاضر وو او یو له دوي امیر المؤمنین حضرت علي وهٔ او شیخ قدس الله سره به وراندې په ښې لور په رفق او په ادب راغے او عرض به ئې وکړ چې ورو ورو بائده دي چې دے ونهٔ ویرېږي. او هرګاه چې سرور کائنات فخر موجودات ﷺ تشریف شریف وفرمایهٔ او زهٔ ئې په خپل دیدار سعادت انوار مشرف کړم ډیر تبسم ئې وکړ چې [۱۳۶۶] الٰهي بعضو ډیر څهٔ وکړل او دا شخص په سر کین ښنې الوده دے محض لطف او کرم دي تا دے یعنې څنې کهٔ ډیره سعي وکا رتبه د قبلیدو نهٔ مومي او څنې کسان کهٔ ناستے ئې په میخانه په خرابات وي فضل دې تا رهبر او هادي د دوي شي. او توبه ئې نصیب او معرفت او هدایت بیامومي. پس هغه شخص ته هسې علم له علمونو د باطن مخ ورکړ ګویا سینه ئې سیند د علم معرفت شوه او حال د حقیقت ئې په حکم د دې چې من عرف الله لا یخفي علیه شي (۱) هغه مرد فرمائیل او وئیل ئې چې واړه رنځونه د روئ زمین و ماته بښیل او زهٔ پرې پوهیدم او هم ئې وئیل چې نیک نیتې مې په حق د ځان ولیده چې بهترین د علمونو وه پرینښے نهٔ بویه. بیت:

چندین فنون شیخ نیرزد بہ نیم جو — راحت بدل رسان کہ ہمین مشربست بس

مناقب په احوال د شیخ جیو د طفولیت : حضرت شیخ په حال د طفولیت ډیره ژړا کوله او مشفقه مور ئې په دا سبب ډیره محزونه او مغمومه وه. چې مبادا دا تاثیر د جن د پیري دے شیخنا شیخ بهادر [۱۳۶۷] قدس سرهٔ په حال د دې واقف شهٔ ورته ئې ووې چې اے عزیز بختې او نوم د شیخ جیو د والدې عزیز بخته وهٔ په حق د دې کودک اندیښنه او ګمان د

ډکي مهٔ کړه. ديو او دد دهٔ ته نژدې کيدونې نهٔ دے ليکن د دهٔ يوه هسې مرتبه او درجه ده چې نور د هغې مرتبې ورته مخ بنکاره کا قوت ئې د ضبط او د درک نهٔ لري په دا سبب دے ژاړې او هم ئې په باب د شيخنا فرمائيلي وو چې زهٔ يوه درجه لرم يعني علم د باطن او دے دوه درجې لري يعني علم د ظاهر او باطن او هم ئې وئيلي وو چې اے عزيز بختې هغه چې دې ما څخه خوړلي نهٔ وو د دهٔ په وخت به ئې وخوري او هم ئې په حق د شيخنا فرمائيلي وو چې دے به خوږ لکه قند او نيشکر وي. يعني کلام او مجلس به ئې په طالبانو خوږ تر قند تر نيشکر وي. الغرض په ليدل د يوسف عليه السلام کم و بيش دوه درې مياشتې ليدونې به له طعام مستغني وهٔ. هم دا رنګ ډير ياران او محبان د شيخ په ديدن د شيخ په ډير مدت له طعامه بې پروا وو او په ملاقات به د شيخ جيو [۱۳٦۸] و طالبانو زائرانو ته خو ځيزه نصيب شول اول دا چې شيخ به ئې وليد حق سبحانه تعالیٰ به ورياد شهٔ او بل به ئې مجلس کښې د شيخ حب د دنيا له خاطره برطرف شهٔ او بل چې به رخصت شول نقش د مجلس به ئې خاطر دل نشين وهٔ او بل به کلام د شيخنا له خاطره د سامعانو نهٔ فراموش کيدهٔ. په يادول به ئې حلاوت او طراوت موندهٔ او شيخ به په ډير استغراق د معرفت اکثر اوقات خاموش وهٔ او هيڅ لا نعم به ئې من عرف ربه کل لسانه ورته ظاهروهٔ. او کهٔ دپاره به ئې د طالبانو د خاطر په خلوت کښې لږ څهٔ ووې هغه به هم رمز او ايما وه او هرګز به ئې په بلند اواز خبرې نهٔ وے. او کهٔ احياناً به ئې ننه په کور کښې له عيال او له فرزندانو خندا وکړه هغه به هم په طريق د تبسم وه. شايد چې هرګز ئې په قهقهه خندلي نهٔ وو. يوه ورځ ئې پس له نمازخفتن و مونږ ته ووې چې اے دې ما عيال او فرزندانو واورئ چې نن ورځ يو ځيز به لاس راغلے دے کهٔ تاسو ئې اخلئ وائ خلئ. او کهٔ ماته ئې پريږدئ ما قبول کړے دے. مور د مونږ ووې چې زهٔ هغه ځيز [۱۳٦۹] اګر چې ډير نفيس وي اخستونې نهٔ يم دا هم نهٔ يم دا هم تارک الدنيا وه. مونږ عرض وکړ چې کهٔ وې وينو هالهٔ به خواب وکړو او شيخ ډير خوښ او خورم وهٔ او ډير تبسم ئې کاوهٔ. ګمان زمونږ دا رنګ وهٔ چې ډير عجيب او نفيس ځيز پيښ شوے دے. اخر الامر له کوره ووت ځاله ئې د چرچنې په دواړه لاسه نيولې راوړه او ډير تبسم ئې کاوهٔ وې فرمائيل چې رحيم فقير په طريق د نذر راوړې ده. الغرض په سبب د رښتيني نيت د هغه فقير ډير خورم او راضي وهٔ او هرګز دا رنګ تبسم او مزاح بې د حضرت شيخ ياد نهٔ دے.

مناقب مشتمل په ذوق د مريونو ازادولو: په هغه وخت چې شيخ جيو ته ذوق د بندګانو د ازادولو وهٔ هرګاه چې غلام به مستغالي شهٔ څو به هغه غلام ازاد نهٔ شهٔ هومره به شيخ ناقرار او مضطرب وهٔ. بعضو به بې توقف بها واخسته رضامند به شول او بعضو به ګستاخي

وکړه زر به ئې غاړه د رضا نهٔ کیښوده. یو شخص وے چې بنده [۱۳۷۰] دې ما په شیخ مستغالي شۀ او شیخ جیو خپل سړي راستول اما ما غلام نهٔ ازادوهٔ څو ځله سړي د شیخ راغلل لیکن ما غلام نهٔ ازادوهٔ. پس له هغه زهٔ شیخ و حضور ته وبللم په حضور مې هم ازاد نهٔ کړ. هرګاه چې له شیخ رخصت شوم څخو زمکه مې پرې کړه ناګاه مې نظر وکړ په مخ کښې مې شیخ ولاړ ولید ډیر وویریدم هومره خوف راباندې زور شۀ چې بې له ازادی مې خپل نجات او خلاصے نهٔ لیدهٔ. اخر مې هغه مریے ازاد کړ او لس روپی مې نورې هم شیخ ته نذر کړے. رخصت شوم لیکن شیخ له مخې د مهربانی پخپله بها د هغه غلام راستوله او بنده ئې له قیده د بندګی ازاد کړ. او یو بل شخص وهٔ چې هم دا رنګ ئې بنده نهٔ ازادوهٔ او پس له ډیره ګفتګویه ئې و سړیو ته د شیخ ورې چې کهٔ دوه صوه روپئی راکا ازاد به ئې کړم. او بها د مریې دا هومره نهٔ وه. پس حضرت شیخ دو صو روپی په لاس د خپل سړي و هغه شخص ته واستولے. هرګاه چې مریدانو د شیخ دوه صوه روپی و هغه شخص ته راوړے هغه شخص متاثر شۀ وې وئیل [۱۳۷۱] چې دا دوه صوه روپی دې ما د عرض سره شیخ ته عرض کړئ چې په قیامت به لاس په لمن د شیخ ښخ کړم امیدوار یم چې ماله ځان رفیق کا او تنها مې پرې نږدي هرګاه چې مریدانو د شیخ ځواب د هغه شخص راوړ شپه ډیره تیره وه. مریدان منتظر د خبر رسول وو اما بې له اعلامه شیخ راووت او له دوې نه ئې سوال وکړ حقیقت ئې مفصل عرض کړ شیخ مجملاً وفرمائیل امید په کرم د پروردګار کړے بویه او توکل په هغه خدائ جل جلاله لرم هغه بنده ئې ازاد کړ. نقل دے له فقیر جمیل بیګ نه چې یوه ورځ د حضرت شیخ په خدمت په خلوت کښې تنها ناست وم ناګاه تمام وجود مبارک د شیخ زرد ښکاره شۀ نوراني لکه سرهٔ زر متعجب شوم چې دا څهٔ حال پیښ شۀ. حضرت شیخ راته وفرمائیل چې تاته به هم دا حال په یو وخت پیښ شي. اما ځان وساته هیچا ته ئې مهٔ ښکاره کوه مګر خپلې مور ته. نور وجود د شیخ جیو بیا په خپل حال راغے. مدت مدید په دا مقدمه تیر شۀ زهٔ په خلوت کښې یوه ورځ ناست وم [۱۳۷۲] په خاطر مې تیر شول چې شیخ فرمائیلي وو زهٔ خو هغه رنګ نهٔ شوم. کهٔ مې ځان ته کتل په هغه شان مې خپل ځان لیدهٔ لکه شیخ جیو مې لیدلے وهٔ. په موجب د شیخ د ارشاد مور مې خبر کړه راغله چې زهٔ ئې ولیدم په ژړا شوه چې دا څهٔ شوې دې عرض مې وکړ چې مورے تهٔ مهٔ زهیریږه. نقل مې د حضرت شیخ د ارشاد ورته وکړ. خوشحاله شوه دې ما رنګ بیا په دستور سابق په حال شۀ.

مناقب : یو شخص په زیارت د شیخ جیو راغے په مسجد کښې په نیت د شپې کښیناست هرګاه چې شپه راغله څخو شپه تیره شوه. ناګاه شیخ راووت هغه شخص ئې له خوبه ویښ کړ

ورته ئې وفرمائيل چې کور ته ورځه. هغه شخص کور ته روان شۀ هر ګاه چې کور ته ورسيدۀ وريـخ پـه اسـمـان بنـکاره شوه باران عظيم ووريدۀ غوا غيله د هغه شخص په صحرا وو په ډير تلوار له هغه ځايه روان کړۀ او په هغه ځائے چې مال د دۀ وۀ لوے سيلاب راغے کۀ هغه شخص حـاضـر شـوے نۀ وے واړه مال مويشي به ئې په سيلاب غرق شوي وو . هغه [۱۳۷۳] شخص معلوم کړۀ چې په فرموده کښې د شيخ دا څۀ حکمت او فائده وه.

مناقب : يـو مـريـد لـه خـاصـه مريدانو د شيخ وۀ قصد ئې د حج درلۀ. له حضرت شيخ نه ئې رخصت وغوښت ور ئې نۀ کړ. پس له يوۀ مدت ئې بيا عرض د حج وکړ رخصت ئې ورکړ ورته ئې وفرمائيل چې هر ځائے چې تاته اشکال او سختي پيښه شي ما ياد کړه. پس هغه په لار د قـنـدهار او اصفهان روان شۀ. هر ګاه چې په ملک د رافضيانو ورغے څو تنه حاجيان نور هم ورسره وو نـاګـاه يـوۀ رافـضـي لاس پـرې ښـخ کـړ ورتـه ئې ووې چې سب د شيخينو يعني د حـضـرت ابـوبـکـرؓ او د حـضـرت عمر رضي الله تعالیٰ عنهما ووائي. دوي استغفار وکړ . هغه مـلـعـون حـجـام ته ووې چې ږيرې ئې کلې کړه. ږيره ئې د يوۀ کله کړه. هر ګاه چې وار په دۀ راغے امر د شيـخ جيو ورياد شۀ. فرياد ئې وکړ او شيخ ئې ياد کړ. په فضل د پروردګار خود هـغـه رافضي پرې مهربان شۀ. بيا هغه شخص کوسي په لاس د رافضيانو کښيوت هم هغه چې ئـې ورتـه ووې چې هـغـه پـخـوا ئې ورته وئيلي وو دۀ توبه او استغفار وکړ. [۱۳۷۴] هغه بيا روادار د ږيرې شۀ بيا ئې شيخ ياد کړ. الله تعالیٰ يوه بوډۍ پرې مهربانه کړه له آفت ئې خلاص کړ. هر ګاه چې مکې شريفې ته ورسيدۀ يو بزرګ ورته اشارت د تلقين وکړ دۀ ورته ووې چې ما يو ځائے محبت موندلے دے او جلب ئې د اختيار په خپل لاس نۀ دے او مقرر دے چې عاشق بـې لـه جـمـال د خپل معشوق بل څۀ نۀ ويني. نور ئې ورته ووې چې وايه څۀ مقدار محبت دې مـونـدلے دے دۀ ورته ووې تر مال تر سر تير يم. نور هغه بزرګ آفرين ووې چې دا علامت د عـارفانو دے بيا په شام کښې يوۀ بل بزرګ اشارت د تلقين ورته وکړ دۀ هم هغه خواب ورکړ چې پخوا ئې هغه بزرګ ته ورکړے وۀ. هر ګاه چې دۀ څخه ئې بيا مراجعت وکړ په خدمت د حـضـرت شيخ جيو حاضر شۀ حضرت شيخ جيو وفرمائيل چې بزرګ د مکې معظمې او هغه بـزرګ د شام د ولايت له تا سره ئې څۀ ذکر مذکور کړے دے مګر د ازل په کار ئې نظر نۀ وۀ کـړے. هغه مريد په تمام يقين وپوهيدۀ چې حضرت شيخ دې ما له احواله خبردار دے. عرض ئې وکړ [۱۳۷۵] چې حاجت دې ما و بيان ته نشته. هر چې په ما تير شوي دي حضرت شيخ واړه ليدلي دي. مناقب نقل دے حضرت شيخ د خپل نيکۀ چه شيخ مست ئے نوم وۀ قبر ته ورغلے وۀ. پس له ليدو د زيارت مذکوره راوجارووت او سر ئے د هغۀ په قدمبوسی د

حضـرت شيخ حاضر شول. يوۀ شخص د هغې جماعې له ميان غوا په طريق د ضيافت تر نظر مبـارک تيـره کـړه. کـور ته رخصت شۀ چې څخو تير شۀ په زړۀ کښې ئې انديښنه تيره شوه. وې وئيـل چې پـه خپـل کـلـي کښې محتاجان او مسکينان د ما ډير وو. کاشکے دا غوا مې په خپـل کـلـي کښـې د هـغـو ضيـافـت کـړے وے. په مجرد د دې انديښنې حضرت شيخ سړے ورپسـې راستـوۀ. دې ئـې وبـالـۀ ورتـه ئې وفرمائيل چې صبا د خپل کلي محتاجان د غوا سره راولـه چې دا غوا دوئ ته خيرات شي چې رسول اللهﷺ اصحابو ته فرمائيلي وو چې خيرات د تـاسـو چـې مـاتـه راشي او زۀ ئې خيرات کړم دا بهتر دې چې تاسو خپل لاس خيرات کړئ.

مناقب: يـو شـخـص په خدمت د شيخ جيو راغے او نذر ئې هم څۀ راوړے وۀ شيخ[۱۳۷۶] جيـو ئـې لـه احـوال پـوښتـنـه وکړه او پرې مهربان شۀ. پس له لږ ساعت شيخ په طرف د کور روان شـۀ. هـرګـاه چې څۀ قـدم ئـې واخستـل نور ئې مخ د توجه په لور د هغه شخص کړ. په برکت د شيخ د توجه هغه شخص ته هسې رنګ حال مخ ښکاره کړۀ چې درې مياشتې شب و روز خـوب او خـوراک ئـې نـۀ وۀ. او احتيـاج او تـعـلـق د هيڅا ورته پاتو نۀ شۀ نظر کيميا اثر عـبـادت لـه دې نـه دے او هـم د شيخ جيو بعضې امې مريدانو ته به حق تعالٰي علم او فهم ورکړ چې ډيرو عالمانو به د دوي فهم او دانش وليد حيران به پاتو شول او په يوۀ نظر به د شيخ جيو هـونبـره خـزانـې د معرفت پرې وا شوے چې دنيا به ئې بالکل ترک کړه او ديوانه به د محبت الٰهـي شول او په غم په خوشحالي او په مدح او په ذم به ئې نظر نۀ وۀ. او اکثر اوقات به ئې بې تـکـليف لـه طعام لاس وکښلے وۀ او غم به د لوږې او موړ والي او د سړو او د غرمو ورسره نۀ وۀ او په ګوښه خوښ او په عبادت به د حق تعالٰي مشغول وو او هميشه به په ذکر فکر وو.

مناقب: حـضـرت جيـو تـه بعضې د[۱۳۷۷] د کليو ختک راغلل التماس ئې وکړ چې کۀ شيـخ جيـو قـدمونه مبارک زموږ تر خونو واخلې وسيله به زموږ د سعادت شي. شيخ جيو به هغه وخت د هيڅا و ضيافت ته نۀ تۀ. پس له ډيره تضرع او زارئ شيخ جيو رضا د دوي اختيار کـړه او دوئ دپـاره د شـيـخ د ضـيـافـت څـلـور غوا او څلويښت روپۍ مقررې کړے او هر څو فـقيـران چې بـه د شيـخ پـه خدمت راشي کور په کور به ئې ميلمانۀ کا. هر ګاه چې شيخ جيو نـژدې د کـلـي تـه ورغـے څـواب ئـې ورستـاوۀ چې زۀ د فـلانـه کره ناست يم اګرچې رضا او خـواهـش د هـر يوۀ دا وۀ چې کۀ شيخ تشريف زما کره وفرمائي ليکن شيخ د هغه شخص کره کښيـنـاسـت هـمـت او توکل د هغه کس دامنګير شۀ. دوه غوا او دوه منګيه غوړې خيرات د فـقيـرانـو کـړۀ هرګاه چې وخت د شيخ د روانيدو راغے تاثير په درست کلي وشۀ. هر چې ئې مال اموال درلوو شيخ ته ئې نذر کړ. پس له څو ورځو شيخ حقيقت د دوئ معلوم کړ چې په

معاش کښې تنګ شول. څهٔ کم و بیش دوه صو غوایهٔ او زر پسونه او نقد او جنس ئې نذر کړي وو. [۱۳۷۸] پس شیخ جیو حکم وفرمایهٔ چې په سر د غوا دوه روپی او په سر د پسه دې یوه روپی راوړي نور دې خپل خپل مال بیارته بیائي. یوهٔ شخص نقل کاوهٔ چې باوجود د شیخ دا هونبره مهرباني اتیا روپی دي ما خیرات شوے او سعادت مې د دین د دنیا حاصل کړهٔ. مناقب د شیخ جیو له حساب د تحریر او له انداز د تقریر متجاوز دي لیکن تبرکاً و تیمُّناً لږ له ډیرو وکښل شول. پس له دا به کرامات د شیخ جیو قدس الله سره العزیز په قید د قلم راځي.

مناقب مشتمل په بیان د کرامات نقل دے چې یو مرید په خدمت د شیخ جیو راروان شهٔ شرف ملاقات ئې حاصل شهٔ. هغه شخص چې نیت ئې د ارادې وهٔ پینځه روپی له خانه په طریق د نذر راوړے. وې چې یوه یوه به هره ورځ نذر کوم چې اختلاط او معرفت حاصل شي. هغه شخص وې چې یوه ورځ ئې په ما نظر د مرحمت او مهرباني وکړ. په هغه نظر د مرحمت ما هومره څهٔ بیا مونډل چې خاوري او زر ما ته برابر شول او [۱۳۷۹] محبت مې له دنیا منقطع شهٔ. نقل دے چې یو مرید له مریدانو د شیخ په حضور د شیخ حاضر وهٔ حضرت نظر د مهرباني او د توجه پرې وکړ. هغه مرید وې چې سر زما و آسمان ته ورسید بیا ئې نظر د توجه وفرمایهٔ درست صورت مې لکه موم او اور ته ویلي او زیم شهٔ وویریدم چې اوس به تار په تار جدا شم لیکن په خپل حال پاتو شوم. نقل دے یو مرید له خاصه مریدانو د شیخ په خدمت حاضر وهٔ. رنګارنګ جذبو په شیخ ورود او نزول وفرمایهٔ. هغه مرید متاثر شهٔ لاړ په لرزه او په اضطراب شهٔ او سر ئې یو لور بل لور غورزوهٔ او دهٔ وې سکه سر مې په څلورم آسمان وبلوسي. پس له یوهٔ ساعت حضرت جیو یوهٔ شخص ته امر وکړ چې تهٔ دهٔ ته ووایه چې صبر کړه قرار شه. هغه مرید ووې جلب د اختیار په لاس زما نهٔ دے په مجرد د دې هغه مرید په حد د اعتدال راغے او قرار ئې ونیو. نقل دے یو مرید له خاصه مریدانو د شیخ په لار د مکې د بیابان په سبب د رنځ د ماندګۍ له قافلې پاتو شهٔ.[۱۳۸۰] هغه مرید (وائي) چې هر ګاه مې په ځان کښې تخفیف د مرض ولید سر مې پورته کړ په میان د لار مې ګردغبار د قافلې ولید. هر ګاه چې نظر مې وکړ هغه قافله چې زهٔ ترې وروستو پاتو وم معلوم مې کړه چې حضرت شیخ زهٔ تر قافلې ورانډې کړم او دې ځائے ته ئې راوستم. نقل دے نقل مې اوریدلے دے چې حضرت شیخ جیو به نمونځ په مکه ګزارهٔ او پس له نمانځه به غائب شهٔ او همیشه به ئې نمونځ په یوهٔ مقام معین ګزارهٔ. یوه ورځ یو شخص لاس د شیخ په ورانهٔ کښیښ او وئې نیوهٔ او وې وې چې تهٔ څوک ئې. څواب ئې ورنهٔ کړ. پس له هغه ئې قسم وکړ چې په خدائے دې ووایه تهٔ څوک ئے. هالهٔ شیخ جیو ورته ووې چې زهٔ شیخ رحمکار ختټک یم. هغه شخص

ووې پس له هغه غائب او ناپدید شهٔ. نقل دے اوریدلي مې دي چې یو شخص په دهلي کښې وهٔ ډیر معتقد د شیخ جیو وهٔ او مرید با اخلاص وهٔ لیکن له اهل دنیا نه وهٔ یو خائے جنګ او جدل له اکابرو سره ئې وکړ په تنګ ورسیدهٔ تر هسې حده چې مرګ ته نژدې شهٔ او په خپل کور کښې د [۱۳۸۱] فرزندانو سره ئې حصار کړ او زخمي شهٔ او دهٔ توره په لاس ور د کور نیولے ولاړ وهٔ او څنې ئې زخمي کړهٔ. پس له هغه ځخو شپه تیره شوه. حضرت شیخ پرې حاضر شهٔ او ورته ئې وفرمائیل چې یوه بوځخه واخله او فرزندان له ځان روان کړه نور واړه مال پریږده هغه شخص التماس وکړ چې یا حضرت غلیمانو ورنیولے دے او څوکی ئې کښینولي دي. شیخ مکرر ورته ووې چې پاځه ځه او فرزندان له ځانه روان کړه. هغه شخص هغه رنګ په عمل راوړ. شیخ د وړاندې دے وریسې تلل. هغه شخص وې چې په ورهٔ د حویلي ورغلم متحیر وم چې دروازه به پورې وي څهٔ رنګ به تر ورهٔ ووځم. ناګاه مې اواز د جندرې د لر کیدو واوریدهٔ. هر ګاه چې په ورهٔ ورغلم ور لرې وهٔ ووتم او روان شوم. شیخ جیو مې له نظره غائب شهٔ متحیر شوم ناګاه مې یو ځنګل په نظر راغے هورته مې د ویرې سره قرار ونیو او وویریدم. چې اوس به مې غلیمان لاندې کا. هر ګاه چې صبح صادق مخ ښکاره کړهٔ کهٔ مې ستر ګې پورته کړې په نواحي د قصور رسیدلے وم. [۱۳۸۴] او په قصور کښې مې یو یار وهٔ. فرزندان مې دلاسا کړهٔ چې خاطر جمع کړئ قصور ته راغلو او دلته مې یار شتا زمونږ غور او خصمانه به وکا. الغرض د هغه یار کره ورغلم او خصمانه مې ئې وکړه او زخمونه مې روغ شول. او سعي مې وکړه هغه مال چې مې غلیمانو ته پاتو وهٔ په لاس مې کښیووت. نقل دے یو مرید د شیخ جیو وهٔ. خوئے ئې و هندوستان ته لاړ وهٔ پس له یو مد ته پ خدمت د شیخ راغے او عرض ئې وکړ رخصت د تلو ئې په خوې پسې وغوښت شیخ جی توقف د څو ورځو ورته وفرمایهٔ. مطابق د امر لس دولس ورځې شیخ جیو ځخه پاتو شهٔ. ناګا خوئے ئې راښکاره شهٔ او ملاقات ئې له پلاره وکړ. پس له هغه ئې خوئے دواړه و کور ت رخصت کړ او نتیجه د شیخ د امر ورته ښکاره شوه او یقین ئې باندې مستحکم شهٔ. نقل دے یو سردار له سردارانو د هغه وخت او نیکهٔ د هغه سردار خاصه معتقد د حضرت شیخ جیو و په اراده د حق تعالیٰ و هغه امیر ته په یوهٔ مهم کښې په موضع د کامره یوه سختي پیښه شوه ا خپل مخلصي ئې بې له کرمه د حق تعالیٰ نه لیده پس په توجه د شیخ [۱۳۸۳] جیو حق تعالیٰ مخلصي د دهٔ بوجه من الوجوه وکړه. هر ګاه چې امیر په زیارت د شیخ جیو ورته ووې چې هغه وخت چې تا وته په موضع د کامره سختي پیښه شوه ما په حق دې تا په درګاه د حق تعا دعا د خیر کړه. هغه امیر ووې چې زهٔ پوهیدم چې مخلصي دې ما په توجه د حضرت شیخ

وشـوه او شـايـد چې مهرباني د شيخ په حق د هغه امير په سبب د دهٔ د نيکهٔ وه چې ډير صادق العـقيـده وهٔ. نـقـل دے يو مريد له مريدانو د حضرت شيخ له قوم د يوسفزيو وهٔ او سکونت او استـوګنه ئې په سوات وه او ډير ئې تلل راتلل په خدمت د شيخ جيو کول. هر ګاه چې نوبت د شيـخ د رحلـت نـژدې راغـے دا ځل چې په خدمت د شيخ راتهٔ ارتينه ئې هم له خانه راوسته او دواړه پـه زيـارت راغـلـل. يـو مـدت پـه خـدمت کښې حاضر وو. هر ګاه چې وخت د دوي د رخـصـت راغـے حـضـرت جيو ورته وفرمائيل چې ته شيخ جعفر ته ورشه ورځخه اوسه. نور و شيـخ جـعـفـر تـه لاړ شـهٔ او ورځـخـه مشـغـول شهٔ او شيخ جيو له دار فنا و دار عقبىٰ ته رحلت وفـرمـايـهٔ او هغه مريد په [۱۳۸۴] خدمت د شيخ جعفر مستقيم وهٔ. يو ځل زهٔ په بنهر د اټک کښـې لـه شيـخ جـعـفـر سـره ملاقاتي شوم او هغه شخص مې له شيخ جعفر وليد چې په ميان د ګـفتګو ئې هغه مريد شيخ جعفر ته ووې چې زهٔ په حکم د شيخ جيو راغلے يم. فرمائيلي ئې وو چـې شيـخ جـعفر ته ورشه. دے طبيب حاذق وهٔ کهٔ زهٔ تا ځخه مشغول نهٔ وے زهٔ به پس د دهٔ له مـرګـه مـړ شـوے وم. نـور نـې دا کـرامـت د شيخ جيو و شيخ جعفر ته بيان کړ چې هر ګاه زهٔ وروستي ځـل د ارتيـنـې سره په زيارت د شيخ جيو راغلم او شيخ دواړه کورته رخصت کړو. روان شـو پـه ميـان د لاړې پـه ميـره عظيم باران شروع شهٔ تر هسې حده چې کالا پاني او بلړ راغـلل او لار د آمد و شد بنده شوه او شپه وه تاريکه او باران وريدهٔ حيراني مې دامنګير شوه. نـاګـاه حـضـرت شيـخ منخ بنکاره کړ او وې ونيل چې دا مې په مثال د لُور ده زهٔ تر يوهٔ لاس او ارتيـنـه مې ئې تر بل لاس ونيوه تر اوبو ئې پورې کړو او خپله مصله چې د ميزري وه په سر ئې زمـونـږ نيـولـے وه څـو صباح ته باران ودريدهٔ نور ئې[۱۳۸۵] ووې چې ورځئ او دې له نظره غـائـب شـهٔ او دا اذن د شيـخ هـم پـه دلـجـويـي د هغه مريد وهٔ چې دې و شيخ جعفر ته په زړهٔ کښـې‌مـائـل د دهٔ د خاطر دپاره ئې امر په خدمت د شيخ جعفر وکړهٔ. هر ګاه چې دا حقيقت د شيـخ جيـو د کـرامات شيخ جعفر واوريدهٔ وې ونيل چې شيخ لوے ولي الله او ډير مرتاض وهٔ. نـقـل دے يـو لـه مـريـدانو د حضرت شيخ وهٔ دهٔ دپاره ئې د باز د نيولو دوګزه په سوات کښې ايښـے وه څو ورځې تيرې شوې باز په لاس د هغه شخص رانغے چې بې اذنه ئې د شيخ بنکار د بـاز اختيـار کـړے وهٔ ناګاه ئې لاس وليدهٔ چې دام ئې د دهٔ ونغښت او وې غورزوهٔ نور هغه لاس غـائـب شهٔ. هغه شخص ووې چې ما پيژندهٔ چې هغه لاس مبارک د شيخ جيو وهٔ نور هغه مريد پـه لـور د کـور روان شـهٔ او ترک ئې د بازواني غوره کړ. او شيخ جيو به بعضې خپل ياران له کـاروبـار د دنيا په باطن منع کاوهٔ چې دنيا بيکاره ناپائيداره ده. نقل دے حضرت شيخ له خپله پلاره چې شيخ المشائخ [۱۳۸۶] شيخ بهادر وهٔ نقل کاوهٔ چې هر ګاه وخت د رحلت نژدې

شـهٔ پـه طـريـق ئـې د مـناجات ووې چې يا رب العالمين هغه چينه د محبت چې دې تا تر غابښ لانـدې جـارې وه چـې په سبب د هغې چينې حاجت دې ما و طعام ته پاتو نهٔ وهٔ او دپاره د خلق مـې بـې له حاجتٔ لږ ډير څهٔ خوړل اوس هغه چينه د محبت بدله په زهر شوه او ترخه شوه. او دا نـقـل شـيـخ جيـو نـژدې و رحلت ته وفرمايهٔ او رمز د حال د دوارو يو د بله مندرج دے. نقل دے شـيـخ جيـو پـه مـرض کـښې د موت وفرمائيل چې اے دې ما فرزندانو هرگاه چې دروند له مـرض شـم او سختي د رنځ راپيښه شي بيگانه خلق راته نژدې مهٔ پريږدئ چې حق تعالیٰ زهٔ له اظهـاره د اسـرار سـاتلے يم بويه چې زهٔ څهٔ ووايم او بيگانه خلق راز فاش کا. الغرض شيخ جيو پـه خپـل مرض کـښې دوه خبرې ووې يو ورانيدهٔ د خپل کلي او بل ئې حال د بقا بالله او فنا في الله ظـاهـر کړ او له وراني د خپل کلي او آباداني ئې وفرمائيل چې دا ځائے او دا مکان به هسې خـراب شي چې [۱۳۸۷] هيڅوک به هسې نهٔ وائي چې دلته وداني وه او خوک وسيدل. اما واقف خـلـق به وائي چې په دې ځائے ځرنگ خوانان جلاتان تير دي او دا مکان د جلاتانو وهٔ. دا لـفـظ ئـې دوه ځـلـه مکرر ووې او په دې رنځ کښې ئې له احواله د بقا مذکور وکړ. و خپل وررور شـيـخ عـفـان تـه ئـې ووې چې اے وررره هغه دې ياد دي چې شهباز خان ماته ضيافت او مهماني کړې وه او سرائ ته ئې بللے وم او په ميان د لار چې په مکان د تيمم ورغلم برق مې و مخې ته راغے ما کلمهٔ طيبه ولوسته او مال مې د خپل نذر چې په غرهٔ کښې پريښے وهٔ واړه مې غوښتے وهٔ چې په کور کښې ئې د شهباز خان صرف په فقيرانو کړم. ليکن بيا مې هغه مال منع کـړ او وهٔ مـې وې چـې کـار دې ما له خدايه دے په سرائ کښې به مې هم خدائ کار پوره کا. چـې سـرائ تـه راغـلـم ډير تاثير په خلقو وشهٔ چې اکثر خلق له ما تير شهٔ او غوغا په ښهر گډه شـوه اوريـدل مـې چې څنو وئيل چې هغو. چا چې وکالت په ميان د شيخ او د شهباز خان کړے دے هـغـه وکـالـت مې نور شهٔ څومره [۱۳۸۸] شوروشر ئې په سرائ کښې راگډ کړ او په دا مـذکـور يـو شخص هغه ورځ په خدمت د شيخ حاضر وهٔ هم ئې دا رنگ وې چې هرگاه شيخ جيـو په دا ځائے چې اوس گنبد د شيخ ولاړ دے راغے يو مريد شعر د عربي په غاړه د پښتو په خـوش اوازی سـره ولوست. په مجرد د شيخ د اوريدو شوق او جذبه د الٰهي ور ولاړه شوه او لـه ميـنـځ د يـارانـو ئـې اس وزغـلاوهٔ مبارک څادر ئې چې هغه ورځ په اوږه وهٔ باز ئې له اوږو واخست پاس په سر د شيخ جيو لکه سائبان ولاړ وهٔ او يو څنگ بل څنگ پرې نهٔ ووت. پس لـه هـغـه ساعت په ساعت د مکاشفې د ذات مخ ښکاره کړهٔ په کمال ئې د فنا في الله او بقا بالله ورسـاوهٔ لـه کـونـه لـه مـکانه تير شهٔ هورته نهٔ شبه او نهٔ ورځ او نهٔ زمکه او نهٔ اسمان نهٔ يمين نهٔ يسار نهٔ کوز نهٔ پاس نهٔ وړاندې وروستو پاتو شول چې لا ليل و لا نهار عندالله (۱) او دا فهم ته

د هغو چا رسي چې خداے خپل فهم ور کړے دے. نقل دے يو شخص له عالمانو په زيارت د شيخ راغلے وۀ [۱۳۸۹] شيخ جيو امام شۀ نمونځ ئې آغاز کړ ليکن په سبب د پښو د چاودو کراهت په انتقالات کښې ترې صادر شۀ. هغه عالم ته په زړۀ کښې دا کار ناپسند ښکاره شۀ چې دا رنګ مرد نمونځ له کراهيت ګزارې شايد چې از روئے بې محل وۀ. په مجرد د سلام د جاريستو شيخ و هغه عالم ته ووې چې دا کراهيت په سبب د عذر او د عجز وۀ چې بې درنګ چې نمونځ ګزارلے نۀ شۀ نور خطره د نفس له هغه شخص بالکل برطرف شوه. نقل دے يو وخت لښکر د يوسفزيو و غاړې ته د سيند په قصد د ختکو راغے ختک هم په نيت د جنګ ورووتل فتح له جانب د پروردګار وه شکست ختکو بياموند کلي ئې د سيند د غاړې واړه وران کړۀ. په دغه ورځ يو شخص وۀ خان ئې په هسې ځائے چې کلي وابنۀ لرګي توده کړي وو پټ کړ او چندان پناه لې هم په مينځ کښې نۀ وه کۀ لږ ځۀ فهم چا کړے وے ليدلے به لې وۀ ناګاه توپخانه د يوسفزيو په هغه ځائے توپک کښيښول او جنګ ئې د توپک آغاز کړ. ختکو هم له دې لوريه توپک[۱۳۹۰] ويشتل او هغه شخص هغه ځائے کښې ځان ژړلے پروت وۀ. الغرض هر چې مال او دولت درلۀ هغه ئې د شيخ جيو په خلاصي د خپل ځان کړ الله تعاليٰ هغه توپچيان له هغه ځايه پاځول او دے ئې ونۀ ليدۀ. هر ګاه چې هغه شخص خپل امن بيامونده له نذر مذکور پښيمان شۀ او وعده ئې ماته کړه پس له لږ ساعت بيا يوه سختي او دشواري چې پکښې ويره د سر وه ورپيښه شوه بيا ئې ډيره زاري وکړه چې يا حضرت شيخه ما توبه کړه او په کړل په نۀ کړل دې ما نظر مۀ کوه و خپل شرف ته ګوره او هغه مال به واړه نذر کړم. الله تعاليٰ بيا هغه سختي پرې اسانه کړه هر ګاه چې مال د نذر ئې شيخ جيو ته راوست حضرت شيخ په زبان مبارک ووې چې دا مال ما بيا تاته وباخښۀ. ليکن پښيماني و مرد ته نۀ بويه. حاضرانو د مجلس معلوم کړۀ چې شيخ جيو له کاره د دۀ واقف دے او هغه شخص هم ډير عذر خپل وغوښت. نقل دے څو کاله قحطي په ختک او په نور اولس ګډه شوه. تر هسې حده چې مالدار خلق په سبب د [۱۳۹۱] وښو او د اوبو د کمي په اطراف او جوانب لاړل او سکونت ئې ونيو. پس له ډيره مدته شيخ وفرمائيل چې هر څۀ ختک بې وطنه شوي دي بيا دې و خپل وطن ته راشي. خلق منتظر د شيخ جيو د امر وو هر ګاه چې دا خبر وروړسيدۀ واړو مخ په وطن ونيوۀ. لا په لار وو چې ډير بارانونه پرې ووريدل. او سختي د قحطي الله تعاليٰ مرتفع کړه. نقل په وخت د کمال خان چې په ميان د مغلو د پښتنو فساد واقع وۀ. تمام پښتانۀ په يوۀ لور وو او په اتفاق ئې جرګه او معرکه وه مګر شهباز خان چې په لوري د مغل وۀ هر ګاه چې پښتنو په مغلو غلبه وکړه مغل په قلعه کښې د پيښور قلعه بند شول. او په

تنک ورسیدل. شهباز خان له ویرې د پښتنو و اټک ته روان شهٔ. هر ګاه چې په خیر آباد ورغے شیخ جیو خپل ورور حیات خان وهٔ ورپسې واستوهٔ او ورته ئې وفرمائیل چې شهباز خان ته روایه چې درې ورځې په خیر آباد کښې توقف وکړه ګوره چې له پردې د غیبه څهٔ مخ ښکاره شي. پس له هغه به اذن ورکړم او هر چې حقیقت دے هغه به ورته ووایم او شهباز خان ډیر[۱۳۹۲] صادق العقیدت وهٔ. اګر چې مصلحت ئې نهٔ لیدهٔ اما بې حکم ئې د شیخ اختیارولے نهٔ شهٔ او په خیر آباد کښې درې ورځې منتظر وهٔ. ناګاه په دریمه ورځ خبر له طرفه د پیښور ورغے چې پښتانهٔ مات شول او مغل غالب شول او فتح ئې وکړه. پس له هغه شهباز خان و خپلو همنشینو ته ووې څهٔ حکمت او فائده مو د شیخ د امر ولیده او شاید چې لږ ډیر مال او اسباب د شهباز خان ښخوا د شیخ جیو تر امر و اټک ته پورې شوے وهٔ. بیت:

بمی سجاده رنگین کن گرت پیر مغان گوید　　که سالک بے خبر نبود ز راه و رسم منزلها

او د حضرت جیو علم لدني روزي وهٔ. په علم لدن ډیر عجائب ترې ظاهریدل. یو وخت صوبه دار د کابل یا جائے نشین د پیښور له شهباز خان په څهٔ آزرده شهٔ. هغه صوبه دار خپل پسر خوانده په ملک د شهباز خان تعین کړ او ملک ئې د خټک واخست او شهباز خان په سرانجام د خپل کار وبادشاه ته روان شهٔ. عمل په خټکو مغلو آغاز او بعضې خټک ئې پا نںک د شهباز خان مړهٔ کړهٔ او هغه صوبه دار[۱۳۹۳] په قهر لښکر جوړ کړ چې یو څو کلې د خټکو چې په کوه دامن کښې دي تاخت او تاراج کا. اولس ډیر په ویره شهٔ. واړه شیخ جیو ته راغلل او ژړا ئې وکړه چې له یوه لوریه مغل او څنې خټک هم ورسره ملهٔ دي مونږ خپل ن وینو او پیش خانې د مغل هغه ورځ په هزار خانی پرته وه او لښکر جمع کیدهٔ. حضرت شیخ وفرمائیل چې نن سپه موافق د خپل توفیق کور په کور هر څوک خیرات وکړئ امید لرم چې حق تعالي خیریت پیښ کا. واړو په قدر حال خیرات وکړ په حکم د پروردګار په هغه وخت هغه صوبه دار ته کښل د شکست د هغه سردار چې په سر ئې د افریدیو تعین کړے وهٔ راغلل چې لښکر په ډیر تلوار په دې لورې رخصت شي. هر چې مونږ ژوندي پاتو یو خلاصے ب بیامومو او کهٔ نه واړه به په قتل ورسو پس له هزار خانی نه ئې پیش خانه په طرف د افرید روانه کړه. او شهباز خان ئې بیا په خپل ځائے کښیناوهٔ او حاکم ئې کړ. دا اثر د علم لدن و زده کړه چې علم لدن هسې علم دے چې واړه نکتې د اسرار په علم لدن کښې مندرج دي. فهم د هیچا ورته نهٔ رسي مګر چې فهم حق تعالیٰ ورکا او معلم د دې مکتب خانې [۱۳۹۴] علام الغیوب دے جل جلاله. نقل دے چې یو شخص رنځور وهٔ و شیخ جیو ته ئې راوست او مرتبه شیخ جیو ماستهٔ ورکړهٔ پس له هغه ځخو غوښې د میوهٔ هم ورته عنایت کړے او دا دوا

تر کـه پـه حق د رنـځور مضر وو اما په حکم ئې د شيخ ماسته او غوښې وخوړې حق سبحانه تـعالیٰ باوجود د دواړو طعامونو چې مخالف د مریض د طبیعت وو شفا او صحت ورکړ. او په مـجرد د خوراک ئې قې وکړ یو چینجے چې رنځ ور ولاړ شوے وۀ له هغه چینجي نه وۀ قې ئې کړ. پـس له هغه ئې صحت بیاموند. نقل دے په هغه وخت چې شمشير خان تانه دار د نوښهر وۀ په تاخت و تاراج ئې د یوسفزیو فرصت غوښتۀ. في الجمله فرصت لاس ورکړ په ځنو کلیو ئـې د یـوسـفـزیـو تـاخـت وکړ هم ئې مال او هم ئې بند راوست کم و بیش ځلویښت تنه د مخ سـړي ئـې و صـوبه دار ته له هغه بنده واستول او نور بند ئې ځان ځخه په نوښهر کښې وساتۀ. عـزیـزان د بـنـدیـانـو و حـضـرت شیخ ته راغلل او وې ژړل. شیخ جیو په خلاصي د بندیانو و نـوښهـر ته راغے. شمشير خان معلوم کړۀ چې شيخ راغے او پخوا ئې شيخ [۱۳۹۵] لیدلے نۀ وۀ پـه بیـړی کـښـیـنـاست راپورې ووت او ډیرې ته د شیخ راغے شیخ ورته ووې چې دا بندیان راکړه چې آزاد کـړم. شـمـشیـر خـان مـاته ووې چې ماته قوت د انکار پاتو نۀ شۀ حکم مې د خلاصي وکړ خاطر عاطر د شيخ خوښ شۀ. نور ئې راته ووې چې هغه ځلويښت بندیان له مغل هـم خـلاص کـړه. ما عرض وکړ چې هغه صوبه دار ته ورغلل په هغو لاس دې ما نۀ رسي. هر چې مـا ځـخه وو حضرت ته پیش شول. شیخ جیو یو ساعت کښیناست اوبۀ ئې وځښے طعام ئـې ونـۀ خـوړ نـور پښاور ته په خلاصي د بندیانو روان شۀ. او د شیخ عثمان کره چې ارباب د هـغـه وخـت وۀ ورغے او شیخ عثمان ته ئې ووې چې دا بندیان د یوسفزیو له صوبه دار خلاص کـړه ماته ئې راکړه. شیخ عثمان عذر او حیله راوړه. شیخ خپل کور ته راروان شۀ. پس له څو ورځـو بیـا پـه خـلاصي د هغو بندیانو روان شیخ عثمان ته لاړ شۀ. او دوه شپې ئې تیرې کړے. شیـخ عثمان ادب د شیخ په ځائے رانۀ وړ او کاهلي ئې وکړه. شیـخ جیو بیا و کور ته روان شۀ. امـا حـق تعالیٰ یو هسې [۱۳۹۶] پیش کړ چې هغه واړه بندیان صحیح سلامت خلاص شول. او دا حـقیقت د بندیانو د خلاصي ما واړه د شمشیر خان اوریدلي دي. شمشير خان ماته ووې چې هرګاه شیخ په خلاصي د بندیانو و پښاور ته راغے صوبه دار ته عرض وشۀ چې یو بزرګ له غرۀ نه په خلاصي د بندیانو راغلے دے. هر چې غواړي هغه به ورکا. صوبه دار په غصه شۀ. او وې وئیـل چې دا رنګ شیـخـان د پښتنو چې ځلويښت زره روپی راوړي هالۀ کۀ ئې ازاد کـړم. نـاګـاه صـوبـه دار خـود مـلیه د یوسفزیو په مهم وتړله یوسفزیو ته روان شۀ. هرګاه چې صـوبـه دار په تنګ ورسیدۀ او هیڅ حاصل ئې له مهم په لاس رانغے اخر الامر عاجز شۀ صلح ئې برپا کړه. خواه ناخواه ئې هغه بندیان پریښول او خلعتونه او زر ئې ورکړ په دا مناقب کښې درې نکتې دي. یو دا چې شمشیر خان په دعا د شیخ جیو کار د یوسفزیو د قلنګ په وجه

احسن وکړ او پس له یوهٔ مدت په توجه د شیخ نوم ئې حیات خان وهٔ خطاب ئې شمشیر خان بیامونده. او اضافه ئې د منصب هم بیاموندهٔ. او بله نکته دا وه چې په توجه د شیخ جیو[۱۳۹۷] هغه بندیان بې منته خاص شول او خلعت او زر ئې هم له مغل بیاموندل. دریمه نکته دا ده چې شیخ عثمان چې په سبب د بې ادبی او کم همتی په حق ئې د شیخ المشائخ وکړه نیست او نابود او کورنه ئې وران او زهمن ئې په فقر په گدایی شول. او شیخ جیو به کرامت نهٔ ظاهروهٔ او بزرگانو ته اظهار د کرامت حجاب دے. شیخ په سبب د بې ادبی ورته ووې چې یا شیخ کرامت ظاهر کړه. بې کرامته کار کیدونے نهٔ دے. شیخ په زبان مبارک ورته ووې چې دې ما غرض له یافت دے نهٔ له نقصانه. پس په تحقیق بې له امر د حق تعالیٰ شیخ جیو په اظهار د کرامت میل او رغبت نهٔ لرهٔ. بلکې مکروه ئې شمارهٔ. نقل دے حضرت شیخ جیو به چیچلي د مار ته په طریق د تبرک مالگه ورکوله. حق تعالیٰ په خپل قدرت به مار چیچلے روغ کړ. دا کار د شیخ جیو ازموده او مجرب وهٔ. اوس هم په کرم د پروردگار جاري دے. نقل دے یو وخت شیخ جیو و ماته ووې چې عبدالحلیم زویه یو رنځ زهٔ لرم او دا رنځ دې ما د پلار هم وهٔ. [۱۳۹۸] لږ څهٔ ترې وهٔ او هر رنځ چې پلار کښې وي په ځوي کښې موجود شي. او په هغه وخت چې شیخ دا اشارت فرمایهٔ په ما کښې هغه رنځ نهٔ وهٔ. اما اوس مې لږکے تاثیر د هغه رنځ په ځان کښې ولید. له ثقالت نه ئې ویریږم اما امید مې واثق دے چې حق تعالي هغه په طفیل د دلسوزی او مهربانی د شیخ چې په ما باندې ډیره وه ثقالت او گراني راته ونهٔ رسوي. او تر دې حاله ئې زیاتي نهٔ کا. او شیخ جیو دا حال ماته په هسې رنګ وې لکه څوک ئې و مریض ته وائي. نقل یو وخت یو شخص راغے له شیخ جیو ئې سوال د یوې مسئلې وکړ حضرت جیو مخ و ماته کړ وې وئیل عبدالحلیمه د دې مسئلې ځواب ورکړه. ځواب مې ورکړ بیا ئې سوال د بلې مسئلې وکړ بیا ماته اشارت وشهٔ. ځواب مې ورکړ دریم ځله بیا سوال د مسئلې او دا مسئله دې ما یاد نهٔ وه. متفکر شوم چې کهٔ امر و ماته وشي له ځوابه به ئې درمانده شم. لیکن حضرت جیو ځواب د هغې مسئلې ورکړ. بیا ئې التماس د مسئلې وکړ او دا مسئله هم دې ما[۱۳۹۹] یاده نهٔ وه. اما بیا شیخ ځواب ورکړ. ما معلوم کړهٔ چې شیخ جیو دې ما له حاله واقف دے. ځکه د دوؤ مسئلو حکم ئې و ماته وکړ او حل ئې د دوؤ مسئلو چې دې ما یادې نهٔ وے خود ئې ورکړ. او هیڅ سوالي ته، دې ما یاد نهٔ دي چې شیخ ځواب د مسئلې ورکړے دے مگر دے شخص ته ئې ورکړ. او یو ځواب ئې د سوال د یوهٔ بل شخص چې امیر وهٔ او په زیارت د شیخ راغلے وهٔ هم ورکړ. هغه دا وهٔ چې شیخ ملي چې مرید د حضرت شیخ جیو وهٔ اسم الله ئې په جهر وے او مکرر مکرر نوم ئې د پروردگار یادوهٔ. هغه

امیر شیخ ملي له جهره منع کړ. چې خواب د حق تعالیٰ د تعظیم هر ځل په سامعانو لازم کیږي. پس شیخ جیو ورته ووې چې خواب د تعظیم د حق تعالیٰ ور کړه اما دوي مۀ منع کوه. او بل شخص هم ځواب و کړ چې یو ځل جل جلاله په تعظیم د حق تعالیٰ وئیل کافي دي اګر چې ډیر ځله اسم الله په هغه مجلس کښې ذکر کیږي. پس له هغه امیر ساکت او خاموش شۀ.
نقل دے حضرت شیخ جیو ته یو مرید له لرې ځایه راغلے وۀ شیخ جیو روټی [۱۴۰۰] د اوربشو ډیره مالګه کښې ورته راوړه او ورته ئې وفرمائیل چې دا وخوره او بل ته ئې مۀ ور کوه او څو دې خوړلے نۀ ده بل څیز مۀ خوره او هم ئې منع کړ وۀ ئې نۀ غورزوے. هغه مرید وې چې یوه روټۍ د اوربشو ده اوس به ئې وخورم اما په سبب د مالګې زیات تر یوۀ دوه نمړیو خوړلے نۀ شوه. پس له دریو ورځو ئې تمامه کړه. هغه مرید وې لکه نس دې ما مالګې وسۀ دا رنګ هر څۀ چې په ما کښې اخلاق ذمیمه وو واړه سوخته لوبیا شول. نقل دے له خان علیین مکان خوشحال خان نه چې دۀ په بیاض په خاصه دستخط کښلي وو چې په تاریخ شلیریشتم میاشت د رجب المرجب سن زر درې شپېتۀ ورځ د یلدا په وخت د خطبې چې خطیب په منبر وخوت او خطبه ئې آغازه کړه روح د حضرت بزرګوار شیخ رحمکار قالب جسماني خالي کړ. عالم جاوداني ته ئې رحلت وفرمایۀ. تاریخ ئې د فوت خان علیین مکان دا وئیلے دے.
تاریخ:

چو شد جهان شیخ دین رحمکار — رجب بود و جمعه به سه و سه هفت (۱)
چو تاریخ فوتش بجستم عقل — چنین گفت با ما که "بافقر رفت" (۲) [۱۴۰۱]

جنازه ئې د دۀ واخسته و هغه ځائے ته ئې چې خود ئې وصیت فرمائیلے وۀ رائ وړه. او ما ئې هم یو طرف کټ د جنازې په اوږو اخستے وۀ. شرف مې د دین د دنیا حاصل کړ. مولانا قاضي ولي محمد (۱) او نور خاصه خادمان چې له جانب د حضرت شیخ مامور په دې کار وو په کار د غسل او د تکفین مشغول شول اما په کنل د قبر سرې ئې تهول کړل. جنازه ئې وګزارله په وخت د جمعې د نماز دیګر د دفن له کاره فارغ شو او په وخت د جنازې د راوړو مرغونه سپین سرۀ کم ستر رنګارنګ پرې په پربافته څرخ ئې پاس په جنازه واهۀ راتلل او په جنازه ئې هومره خلق جمع شۀ چې ترتیب د صفونو میسر نۀ شۀ او په وخت د کښېښودو مبارک مخ ئې ما هسې رنګ درخشان ولیدۀ چې ګویا په تبسم وۀ. او وخت د نزع دا خادم ئې بللے وۀ په هسې همت مې ولید چې هرګز ئې حال تغیر موندلے نۀ وۀ. او درد ئې د شکم ډیر وۀ. هرګاه چې دۀ ته احتیاج د قضا حاجت پیښ شۀ ماته ئې اشارت وکړ چې ورځه پاځیدم له حجرې ووتم له مخې د مهرباني له هغۀ [۱۴۰۲] چې نظر ئې د کرم په ما کړے دے حلاوت

او شیرینـي د هغه نظر تر اوسه په زړهٔ کښې موسم. وروستے ملاقات چې دې ما او د شیخ په حالت د حیات وهٔ هم دا وهٔ او درې خبرې مې و دهٔ ته عرض کړے. ژبه د شیخ له حرکت د کلام پاتو وه. په اشارت ئې خواب راکړ یو دا وهٔ چې ما عرض کړ چې خپل ځائے او مصلحه و ضیاء الدین ته عنایت کیږي یا و بل چا ته. په اشارت ئې لاس په لور د اسمان پورته کړ. له دهٔ نه دا مفهوم شول چې یعنې هر چاته چې خدائ تعالیٰ ورکوي. او بل ځائے چینه او روانې اوبهٔ وے هغه ځائے مې یاد کړ چې کهٔ حضرت شیخ وفرمائي مزار به د شیخ جیو په هغه ځائے وکړو چې قبر د شیخ او روضه زینت بیاموسي. وائي هم په اشارت منع ئې کړهٔ. یوه میاشت پخوا له وفاته بنده ئې بللے وهٔ نصیحتونه ئې مشفقانه وفرمائیل او جانب د خپلو فرزندانو هم هغه زمان حقیقت د کار راته معلوم نهٔ شهٔ. هرګاه چې دا واقعه پیښه شوه معلوم شول دهٔ ته دې مخ بنکاره کړے وهٔ هغه واړه ئې په کنایت فرمائیل وصیت وهٔ او په وخت د رخصت مې التماس [۱۴۰۳] د فاتحه وکړ په زبان درافشان ئې ووې چې ورځه هر مشکل چې درپیښ شي حق تعالیٰ به ئې په تا اسان کا. په تمامي عمر کښې ئې دا رنګ صریح دعا په حق د هیچا فرمائیلے نهٔ وه چې نصیب د دې احقر شوه. الغرض حضرت شیخ ډیر مرد بزرګوار او متبرک وهٔ او مرید د خپل پلار وهٔ اما طریقه ئې اویسي وه بلکې پلار ئې هم هغه مرتبه درله له یمن او له برکته د دهٔ وهٔ چې دې په صلب کښې وهٔ او نوم ئې د پلار بهادر وهٔ. الحق بهادر د دین وهٔ. ډیر مرد باوقار او جلالت وهٔ او کرامات او خوارق عادات ډیر ترې نقل شوې دي. او حضرت شیخ رحمکار ډیر صاحب وقار او باتمکین وهٔ او له کشف کرامات ئې هیچرې دم نهٔ واههٔ. مثنوي:

بحر بصد دجله شد آرامگیر — سیل ز یک قطره بر آرد نفیر

دا هومره عظمت چې ئې روزي وهٔ نهٔ په وخت د سکر او نهٔ په حال د هوش او نهٔ په وخت د قبض او نهٔ په هنګام د بسط ئې یو سر موئ له جاري د شرعې د نبي ﷺ تجاوز وکړ. او عمر شریف د شیخ نږدې[۱۴۰۴] و اتیاٗ کالونو ته رسیدلے وهٔ. او په اول د ځواني په جذبه د حق مشرف شوے وهٔ. له ابتدا تر انتها پورې ژبه د هیڅ یو عالم او مشائخ په باب د دهٔ درازه نهٔ شوه دا دے اصل د واړو کرامتونو وائي چې شیخ قطب الاقطاب او صاحب د زمانې وهٔ. الحق هم دا رنګ وهٔ او قبولیت ئې د خاصو عامو درلهٔ او درګاه د دهٔ مرجع او مآب د که و مه وهٔ. او زهد ئې د بایزید او توکل د شقیق جمع درلهٔ. او صاحب د عظیمو ریاضتونو وهٔ او په حال د سکر به کله دوه میاشتې پاتو شهٔ او په دا وخت کښې به اشنا د خوراک او د څښناک نهٔ وهٔ. او په اورې به لې مالګه د اوبو سره کړه په ګرمو اوبو به ئې ګوشمالي و نفس ته ورکوله. او نمونځ

قیام د شپې تــرې فوت نهٔ شهٔ. په علم فقه کښې ئې وقوف درلهٔ او څو کتابونه ئې د علم فقه او اقـوال د مشـائـخ او احـاديث جمع کړي وو. په يوه ورځ ئې واړه عالمانو او خادمانو ته عنايت کـړ او مسـجـد ئې ويران کړ. لرګي او خښتې ئې په فقيرانو قسمت کړے. شيخ شهاب الدين خـوي د پير سباک چې مرد د لارې وهٔ و حضرت شيخ وته [۱۴۰۵] ئې پيغام راستوهٔ چې کهٔ کتـابونـه و خـلقو ته عنايت شول ځائے درلهٔ ملک د تاسو وهٔ اما دې مشکل و ماته مخ بنکاره کـړ چې مسـجد چې ملک د هيچا نهٔ دے په څهٔ حضرت شيخ خښتې او لرګي واخستل او په فـقيـرانو ئې قسمت کړهٔ شيخ خواب ورستوهٔ چې ما بې له دې څو کتابونو او بې له دې مسجد بـل هسـې څيـز چې په هغې مې دل بستګي وي نهٔ درلهٔ. او په هر څيز چې په هغې دل بستګي وے هغه مې د خپلې لارې دښمن شمارهٔ په دا سبب مې کتابونه قسمت کړهٔ او مسجد چې دې ما زړهٔ پورې ترلے وهٔ او نمونځ مې پکښې ګزارهٔ وهٔ مې وې چې نهٔ بويه دا مسجد چې پرې دل بستـګـي لـرم نـمونځ مې په دهٔ کښې بت پرستي شي څکه مې دا کار په عمل راوړ. معذور مې وشماره بيت:

تعلق حجاب است و بے حاصلی چو پیوند رہا بگسلی واصلی

د حـضـرت شيـخ پـه هر لور مريدان ډير دي او دے صاحب نظر وهٔ په خاصه وخت هر څوک چې به منظور د دهٔ د نظر وهٔ په يوهٔ نظر به د دهٔ په مرتبه د ولايت ورسيدهٔ. دنيا و مافيها به ئې په پښه ووهله او د حضرت شيخ [۱۴۰۶] قريب تر پنځوسو شپيتو خاصه مريدان خاص وو چې هـر يـو پـه مرتبه د تکميل رسيدلے وهٔ. او په ارشاد د خلائق مامور او ماذون وهٔ. او تاثير د لفظ لرې په دوې واړو کښې يو دې ما وررور شيخ جليل القدر جميل بيګ دے چې په عبادت او په رياضـت کښې عظيم شان لرې او بل شيخ جيو دوړ دے چې په خپل ځان په ډير رياضت او په شـکسـت د نـفـس مجنون صفت شوے بې له ګوشت او له پوسته په استخوان هيڅ نهٔ لرې. او هـره ورځ بـه ئـې مـنـګـے له آب سيند ډک کړ او په برمنډ سر به ئې راواخست په درګاه به د شيـخ مـنـګـے پـه سـر تر نمازپښين ولاړ وهٔ او ډير مدت ئې ويښتهٔ د سر پريښې يو لور بل لور ګـنـځـې ګـنـځـې کار د ږومنځې ورته نهٔ وهٔ. په سر ئې الول اويزاند وو هر چا چې په دې باب ونيلي بنهٔ ئې ونيلي دې بيت:

موئے ژولیده که من بر سر ابتر دارم سایۂ دولت عشق است که بر سر دارم

او بـل شيخ شاهي بنادي خيل دے چې بې له قيده قلندر مشرف عمر تيروي. او دے به له ډيره سـکـره او له کثرت د مستى بې نمانځهٔ او بې روژې سروپا [۱۴۰۷] برهنه بلکې تن برهنه بې خـوب او بـې خـوراکـه پـه نعرو په صحرا او په اباداني ګرزيدهٔ اخر په خود شهٔ اوس ئې ډير د

خان په رنگ کړ او په ذکر جلي همیشه مشغول دے او مریدان د شیخ په سربن او په کرلاني او په بنگښ او په نور پښتونخوا کښې بې حساب او بې شمار دي. تفصیل ئې طول غواړي او یو له خاصه خادمانو د شیخ وائي چې په هغه ورځ چې شیخ فوت مونده ځلویښت پنځوس ځله نې احتیاج د قضائے حاجت وشهٔ اما هر ځل ئې طهارت او تازه اودس وکړ او هغه ورځ ئې روژه وه او په وخت د سکرات موت او ځنکدن هر چا چې به اوبهٔ ورنژدې کړے شونډې به ئې یو د بله وروستے. زهے پهلوان د دین وهٔ چې په دا وخت کښې ئې حال په دا روش په دا آئین وهٔ.

ذکر قدوه محققین زبده علماء دین متین پیغمبر امین غازي غزا کفار طرف کوهستان کاشغر و چین ښکار ترونے د مریدانو په فتراک یعني حضرت اخوند محمد ځالاک قدس الله سرهٔ.

په اصل توغه وهٔ توغه په اصل ترین دے پلار ئې د ختکو په نرې کښې متوطن وهٔ هم په نرې کښې ئې زیارت دے اخوند [۱۴۰۸] ځالاک به اکثر و زیارت وته د پلار راتهٔ په سبب د حادثات و یوسفزیو ته لاړ. هورته ئې له غازیانو سره جهاد کاوهٔ. هغه مکان ئې په سبب د غزا خوښ شهٔ شب و روز ئې شغل د غزا وهٔ. ډیر ملکونه، ډیر کوټونه د دهٔ له برکته خالي له کفارو شول. اوس په دا اوان واړه اهل اسلام پرې میشته دي. نقل کا چې شاه جهان بادشاه فرمان ورستوهٔ دا آیت ئې پکښې وکیښ "اطیعوا الله و اطیعوا الرسول او اولي الامر منکم" (۱) مطلب دا چې دغه عالم باغي دے تهٔ پکښې استوګه مهٔ کړه. د بادشاه ملک لره راځه. مطلب دا وهٔ چې هغه ملک د یوسفزیو دے یوسفزے زورور اولس دے مبادا دے په بادشاهي ونیسي. دهٔ په ځواب ورته وکښل چې دا خلق کهٔ له تا باغي وي له خدایه باغي نهٔ دي. زهٔ او دوي شب و روز په غزا د کفارو مشغول یو تهٔ بادشاه ئې کهٔ مدد رارسي ګنجائش لري کهٔ نه ما ځهٔ لره له دې ښهٔ کاره خان لره بولے. نقل دے چې یوه ورځ خان علیین مکان [۱۴۰۹] خوشحال خان لره راغلے وهٔ دواړه سره مقبرې لره په فاتحه ورغلي وو چې راوجاروتل دوه غلهٔ ئې راوستل خان علیین مکان ته ئې ودرول. خان له اخوند مشارٌ الیه نه پوښتنه وکړه چې د دوي په حال ځهٔ بویه. کوتاه ئې ورته ووئیل "اقتلوا الموذیات قبل الایذا" (۱) خان حکم وکړ دواړه ئې مړهٔ کړهٔ. نقل دے چې یوه ورځ اخوند ځالاک غزا ته فضائل مآب اخوند جمال کره میلمه شهٔ هرګاه چې طعام ئې وخوړ یوه حویلي ئې دپاره د شپې ورته خالي کړه چې اخوند ارام ونیو هر څوک رخصت شول لاړل دروازه ئې پورې کړه. پس له یوهٔ ساعته اخوند ملا جمال راغے کهٔ هر څو ئې جستجو وکړ حضرت اخوند ئې په هغه حویلي

کښې بیا نهٔ موند. په دا جستجو له کلیه پسې ووتل اخوند قدس سرهٔ مخې ته راغے دواړه لستونې ئې په اوبو لامدهٔ وو سوال ئې ترې وکړ حقیقت ئې نهٔ معلوموهٔ چې خپل خلوت ته راغے اخوند ملا جمال مذکور چې یو د دهٔ له شاگردانو وهٔ ډیر الحاح ئې وکړ. پس له هغه معزالیه [١٤١٠] وفرمائیل چې په قعر دریاب کښې جهاز غرقیدهٔ هغو سرو زهٔ یاد کړم د دوې په مدد ورغلم جهاز له غرقیدهٔ حق تعالیٰ وساتهٔ. نقل دے چې یوه ورځ میلمانهٔ و مهمان خانې ته د اخوند جیو راغلل هغه زمان د حضرت جیو کره هیڅ موجود نهٔ وو وې فرمائیل چې کټوی په نغریو باندې کړئ اوبهٔ تودې کړئ چې اوبهٔ گرمې شوے خادمان راغلل خبر ئې حضرت اخوند ته ورساوهٔ. حضرت اخوند وفرمائیل چې څخو تحمل وکړئ پس له یوهٔ ساعته یو شخص راغے دوه گوډې ئې د میوو د وریژو گډوډ راوړل و کټوؤ ته ئې واچول چې وریژې پخې شوے وې فرمائیل چې کوژغالې د مستو ډهاره وکړئ. په دا میان کښې یو شخص راغے منگې ئې د مستو راوړهٔ په وریژو ئې واچول وې خوړل چې هغه شخص لاړ حضرت اخوند وفرمائیل چې دا شخص اخون پنجو وهٔ. نقل دے چې په ورځ د لوے اختر حضرت اخوند څالاک غوا حلاله کړه وې فرمائیل چې دې ما تر راتللو سر د دې غوا مهٔ پریکوئ. نور روان شهٔ. پس له نمازدیگره راغے یارانو ترې استفسار وکړ حضرت [١٤١١] اخوند وفرمائیل چې مکې معظمې ته لاړ وم طواف مې وکړ سعادت استفاده مې حاصله شوه راغلم او نخښې د مکې معظمې لکه اطلس وغیره هم ورځخه وو ظاهر ئې کړے. نقل دے چې یوه ورځ حضرت اخوند قدس سرهٔ په غزا د کافرانو فاجرانو لاړ وهٔ کافرانو پاس د غرهٔ له سره لویه سیځه پرې راورغړوله واړه سرې یو لور بل لور وتښتل، یوهٔ یار استقامت او استقلال وکړ. اما هم ئې ځان تیښتې ته جوړ کړ حضرت اخوند قدس سرهٔ وفرمائیل چې مهٔ تښته. انشاء الله تعالیٰ سیځه به تر مونږه را ونهٔ رسې چې سیځه نژدې راغله په حکم د حق تعالیٰ ودریده. نقل دے چې یوه ورځ حضرت اخوند په دستور سابق په جهاد د کافرانو فاجرانو روان وهٔ چې په یوهٔ خشک بیابان چې په درازی گویا میدان د قیامت وهٔ او په فراخی لکه عرصه د آخرت وهٔ ورغے. غازیان له تندې قریب په هلاکت شول. لاسونه ئې له ځانه پریوینځل. واړو استغاثه له بې آبی حضرت اخوند ته راوړه چې یا حضرت د تندې هلاک شو. په دا تل کښې صورت د اوبو نهٔ معلومیږي مگر دا چې صورتونه [١٤١٢] زمونږ تل شي. حضرت اخوند یو ځائے ته اشارت وکړ چې دا ځائے وکنئ لږکې زمکه ئې وکنده اوبهٔ نه دریاب د اوبو ښکاره شهٔ. هر چا اوبهٔ وڅښے شکر ئې وکړ. تللے عمر ئې سر له سره بیاموند. نقل دے چې اخوند څالاک او میان نور قدس سرهما په غزا د کفارو تللې وو په یوهٔ مکان ورغلل کافرانو له پاسه پرې گټې

راپـریښـوي. بیـګي نومیدۀ په هغه لښکر کښې ورسره وۀ ښځه ئې پاس تر پړکي په ګټې ماتـه شـوه. پـه دا سـبـب تـر درسـت لښکر وروستو شۀ. حق تعالیٰ اخوند ځالاک او میان نور هـورتـه پـرې پیـښ کـړل ورتـه ئـې ووې ولـې ناست ئې. دۀ په عاجزی حقیقت د خپلې ښځې عـرض کـړ. میـان نـور و اخـونـد تـه ووې پـای څـوه. اخـوند و میان نور ته ووې په مخ کښې خـطـرات شتـه اوس حـق دې تـا دے تـۀ ئـې پاڅوه. میان نور ورته کښیناست دواړه لاسه ئې د بیـګـي تـر ښځـې چـاپیـر کړ او مراقبه شۀ. پس له ښۀ درنګ چې سر ئې له مراقبې راپورته کړ ورتـه ئـې ووې پـاڅـه دۀ عـرض وکـړ چـې میان ښځه دې ما غوڅه ده څۀ رنګ پاڅم چې ځم. اخـونـد ځـالاک ولاړ وۀ زر ئـې همـسـا پرېکړه ورته ئې ووې لاس ماته [۱۴۱۳] راکړه. پاڅه همـسـا واخله ځه. نور پاڅیدۀ روان شۀ ورو ورو په سیند ورغـے هورته چړ د اوبو وۀ. تر عظیم کـمـر لانـدې لویدے تر دۀ د پاس لښکر په پایاب شۀ بیګي حیران پاتو شۀ متفکر ودریدۀ قابو نـې نـۀ لیـدۀ اخر ئې نوم د حق تعالیٰ او د بزرګانو یاد کړ په سیند ګډ شۀ رفته رفته چې په غرقو اوبـو ورغـے وای خـسـت چـې پـه هغه چړ ئې وروړ اخوند ئې په ستر ګو ولید. بیګي ئې وچت واخـسـت تـر چـړو لانـدې یوه پلنه تیږه وه پاس ئې پرې کښیناوۀ. هورته بیا حیران شۀ هر ګاه چې ښـۀ دلـګیـر شۀ بیا ئې نوم د خدای یاد کړ. تر چړ د لاندې د کمر د اوبو تر میان کمر وۀ هغـه ئـې نیوۀ او تۀ حق تعالیٰ په خپل امان تر هغو اوبو ویوست. نقل دے چې یوۀ طالب علم پ مکه معظمه کښې کتاب مطول چې مجمع د بلاغت او فصاحت او علم بدیع معاني دے لوست یـو اشـکـال پـه کـتـاب مـذکـور کښـې ورتـه پیښ شۀ. هیڅ یوۀ فاضل ئې حل کولے نۀ شۀ یو شـخـص ورتـه ووې چـې مـلا ځـالاک نـومے یو عالم دے په ولایت د کابل قریب و پیښور ت یـوسـفـزیو کښې په سدوم [۱۴۱۴] اوسي هغۀ ته ورشه حل به ئې وکا هغه شخص راروان ش سـدوم تـه راغـے اخـونـد ځـالاک پـه څـو څـو رنګه هغه اشکال د هغه طالب علم حل کړ. ه طـالـب عـلـم پـه خیر خیر ورته وکتل نور ئې ورته ووې چې هغه شخص چې په مکه نوم ماته اخـونـد ځـالاک ښـیلے وۀ هغه هم تۀ ئې. دا هومره تصدیع دې وماته پیښه کړه. دا مشکل دې زمـا هـورې حـل کـړے وۀ اخـوند ځالاک ورته ووې ښه جان خدای ستار دے تۀ هم ستا شه. نقل دے چې اخوند ځالاک په غزا وۀ چې له اباني ډیر پخشومشه مجلس د عامیانو ناس وۀ. یـو د بـلـه ئـې مـذکـور د اخـونـد د کرامات وکړ بعضو ووې چې مونږ په نور کرامات ش پوهیږو کۀ دے کرامات لري مونږ ډیر مشتاق یو تماکو به راکا نور روان شول اخوند ځالاک تـه راغـلـل چـې اخـوند حق تعالیٰ تاته علم غیب عنایت کړے دے تۀ تماکو راکړه یا ئې راته ګوته کړه چې مونږ ورشو رای وړو. اخوند ځالاک ورته وفرمائیل چې یارانو ما څخه تماکو

نشنه چې در نې کړم. دوې مبالغه وکړه ډېر باعث شول پس له ډېرې مبالغې [۱۴۱۵] اخوند څالاک ورته ووې چې د هغې غونډۍ سر ته وخېژئ د تماکو يو بوټے ولاړ دے تماکو ترې راخلئ دوې ورغلل تماکو ولاړ وۀ پرې ئې کړ. نقل دے چې اخوند څالاک قدس سرهٔ په غزا د چېلاسي د کفارو وته تلے وۀ په آب سيند چې ورغے ډيرې جاله نۀ وه پرې د بروخې ئې وغبنتل نشتے ترې ويستے لکه چجکي پورې راپورې پرې ئې وترل لښکر ئې پرې تېروۀ. يو سړي ورته ووې چې اخونده دعا وکړه چې وچ شي چې بې غم خو دۀ ورته ووې چې و خدائ ته وچيدۀ هم اسان دي ولې لار به بيا نۀ مومو مگر کمرې دي. دا يوه بهانه وه. خدائے مو به تير کا. په هغه چجکي درست لښکر تير شۀ غزا ئې وکړه بند ئې راوست بيا په هغه چجکي تر آب سيند راپورې شۀ. نقل دے چې شيخ بهاؤ الحق شيخ بايزيد د خهل وخت وۀ بسا بزرگ نيکو کار ديندار شب و روز د بيمارانو په تيمار وۀ. خاصيتونه د دۀ ډېر دي په حيز د بيان نۀ راځي. ليکن يو له هغو دا دے له دنيا گريزان وۀ الحق مولوي معنوي مولانا روم په دا باب فرمائيلي دي بيت: [۱۴۱۶]

هم خدا خواهی و هم دنیاے دون — این خیال است ومحال است وجنون

څکه دوست د دين دښمن د دنيا وۀ هر چې به ئې مال په لاس راغے په فقيرانو محتاجانو به ئې صرف کړ بل سرتور يو څادر لنگ بل په اوږه تر دا زيات تکليف نۀ وۀ. شيخ جمالي بنۀ وئيلي دي رباعي:

گزک بوریا پوستکے — و لکے پر زر مہر دوستکے
این قدر بس بود جمالی را — عاشق مست لا ابالی را

بل چې رنځور به ورته راغے لاس به ئې پرې وگرزاوۀ يا په زبان مبارک به ئې څۀ وفرمائيل صحت تام شفا کامل به ئې حاصل شۀ. گويا يد بيضا يا انفاس عيسوي ئې روزي وو. کۀ په کالونو به رنځور ورڅخه وۀ پخپله به ئې خدمت د هغه رنځور کاوۀ. مصرع:

که مردان زخدمت بجائے رسند

او کۀ هر څۀ رنځ به ئې لکه کهر يا يوم عار به ئې ترې نۀ کاوۀ او کۀ به ښځه وه چې لاس رورۀ به روا نۀ وو په نکاح به ئې کړه تر هغه پورې به ئې خدمت کاوۀ څو به روغه شوه. هالۀ به ئې رخصته کړه. په دا باب ئې هومره جهد [۱۴۱۷] وۀ چې رنځوران سهي به بازار کښې بې څښتنه پراتۀ وو دۀ به راوړل ساتل به ئې څو به روغ شول. هر گاه چې په سبب د ډېر خوارق عادت او بې شمار کرامت شهرت وشۀ اورنگ زيب بادشاه چا خبر کړۀ په ډېر تالاش ئې رووست. مهرباني ئې ډېره باندې وکړه. اهل مستورات د بادشاه هم چا خبر کړے په

عـرض ئـې بادشاه وفرمائيل چې بهتر ورننه ئې يوست. له حقيقت د دوي د طريقې چا اګاه کړ چې خويندې لوڼه و چا نۀ ورکوي. پس له هغه بادشاه چې څۀ نذر ورکړے وۀ دۀ قبول نۀ کړ. پـه دا سبـب چـې پـه تـا بـانـدې حقونه دي کۀ دا حقونه ادا کړے هالۀ به دې تا نذر قبول کړم. بادشاه ووې هغه حقوق کوم دي. دۀ ورته ووې چې په حق د لوڼو او د خويندو تۀ نيولے ئې چې و چا ئـې نـۀ ورکوے. بادشاه باندې دا خبره سخته ولګيده دے ترې رخصت شۀ چې شپه تيره شـوه پـه زړۀ د بـادشاه هسې تاثير وشۀ چې دے ئې په ډير جهد ورروست بادشاه ورته ووې چې دې مـا سيـال څوک دے چې ور ئې کړم. دۀ ورته ووې چې سيالان دې تا هيڅوک نشته مګر تـۀ د بـابـا آدمؑ [۱۴۱۸] لـه اولاده نـۀ ئـې، خپـلې لوڼه د وروڼو و زهمنو ته ورکړه او کۀ تر دا زيـات وې و سيـدالـو تـه لې ورکوه چې دوي تر هر چا بهتر دي. اورنګ زيب وليل د دۀ قبول کړل. په دا رنګ خاصيتونه او کرامات د دۀ ډير دي.

ذکـر د ميان جميل (۱) چـې خـوے د شهبـاز خـان او د شيخ رحمکار مريد وۀ. ابتدا ئې د حال دا وه چې شهبـاز خـان شهيد شۀ لکه پخوا ئې مذکور شوے دے له پلاره سره وۀ زخمي شـوے وۀ چـې کـور ته راغـے له زخمه ښۀ شۀ د وررور سره سور شۀ په اکاخيلو باندې راغـے قتل عـام ئې وکړ د پلار خون ئې واخست چې کور ته راغلۀ بادشاه شاهجهان په لاهور وۀ د جګت سـنګهـ په مهم وۀ. خان عليين مکان خوشحال خان تيارے د تلو د بادشاه ملازمت ته کاوۀ. دۀ هـم تيـارے کـاوۀ خان عليين مکان خواب ورستاوۀ چې يا تۀ درومه زۀ به اوسم يا به زۀ درومم. دۀ خـواب ورکړۀ چې تۀ درومه. نور اراده ئې الله تعالیٰ په زړۀ کښې د فقيرى وګرزوله کور ته ورغـے چې څۀ مال متاع ئې د کور وۀ. نقد جنس زيور همه ئې صرف د فقراء کړ. فرزندان ئې له لاسه ونيول و صحرا ته ووت. فرزندان په غرۀ کښې يوه دره ده[۱۴۱۹] چې چشمې نومې پـه هـغـه خـائـے کښـې ئـې خـائـے کړل. هغه خائے يوه چشمه ده نور هيڅ وداني نشته. دے به هـميـش د شيخ بزرګوار شيخ رحمکار په خدمت کښې حاضر وۀ او د دۀ خدمت به ئې کاوۀ. نـقـل دے چې په ابتدا کښې هسې حال پرې راغلے وۀ چې ديوانه وار په صحرا ګرزيدۀ خوب ئې نۀ کاوۀ چې چرته به ئې ارام کاوۀ په ميږتانۀ باندې به څملاست او دوه مياشتې به ئې هيڅ نۀ خوړل. وائـي چې افطار به ئې کاوۀ څو مدت ئې دا وظيفه نيولے وه مالګه به ئې په غوړو کښې ګـډه کـره هغه به ئې خوره. نقل دے چې يوه ورځ پيشو راغله هغه غوړي ئې وڅټل د مالګو له زوره پـه خـائـے سـروتـيـر شـوه. پـس تـه ئې په هغه دره کښې چې د دۀ مکان وۀ يو مسجد يوه حـجـره سازه کره. په حجره کښې يو قرآن يو څو کتابونه د فقه ورته پراتۀ وو او په هغه حجره کښې هيچا ته حکم نۀ وۀ چې ورتلے. ورځ و شپه به تنها پکښې وسيدۀ. چې په مسجد کښې

به اذان وشهٔ له حجرې به راغے و مسجد ته فرض به ئې وکړل یا به دے امام شهٔ یا به بل امام شهٔ. هر څوک چې به د دهٔ دیدن ته ورغلې وو هغه وخت به ئې د دهٔ سره ملاقات وشهٔ. [۱۴۲۰] نور به بیا حجرې ته ننوت چې چا به په ضیافت یا خیرات یاد کړ کهٔ به ئې لرې وهٔ کهٔ نژدې به وهٔ ورتهٔ به او خپل خیرات چې به ئې کاوهٔ په څو قسم به ئې کاوهٔ. یو کلے د نهال پور چې د پلاز د میراث و دهٔ ته رسیدلے وهٔ اتهٔ صو روپۍ یا زر روپۍ سالیانه د هغه کلي جمع وه له هغه نه به خرڅ د دهٔ د فرزندانو د اهل و عیال چې لابدې وه په خمتا جامه یا د اوربشو روټۍ دا به ئې ورسول او په ځان د دهٔ پوشاک تر زانو پورې د خمتا قمیص هغه هم چې به زوړ شهٔ ځائے په ځائے به ئې رقعه وګانډهٔ. یوه د خمتا شریعتي پاجامه دوه ګزه د خمتا پټکے په سر یوه شړی او زړې کپړی په پښو تر دا زیات نور ئې هر څهٔ صرف په فقراء په محتاجانو مساکینو وهٔ. ګاه به ئې ذخیره د غوا د غوړیو د وریژو د اوړو د پسونو د میړونو د شکرو جمع کړه. مساکین عالم به ور وبالهٔ کتوی به ئې وروړے هر جنس چې د دوي خواهش به وهٔ په خپل اختیار به ئې پخول خوړل به ئې. ګاه به ئې دا جنس اومهٔ پرې تقسیم کړل کورونو ته به ئې وړل. ګاه به ئې اقسام جنس جمع کړهٔ په بازار به راغے دکان به ئې وکړ کېنې به ناست په خپل لاس به ئې د تلې [۱۴۲۱] مال ورکاوهٔ. د ګزهٔ مال په ګزهٔ د نظر مال په نظر موافق د محتاج په هر څو ورځې چې به دا مال صرف شهٔ نور به پاڅیدهٔ کور ته به تهٔ. ګاه به له خلوته پاڅیدهٔ له خپلو شاګردانو سره په کلیو به سر شهٔ امر معروف به ئې کاوهٔ نهي منکر به ئې په تنبیه په تادیب ورسوهٔ ګاه به راپاڅیدهٔ په کلیو به ګرزیدهٔ د عالمو ودونه به ئې کاوهٔ چې څوک به د وادهٔ په کار درمانده وو حاجت به ئې ورته راوړ په ځان به روان شهٔ د هغه کالهٔ کره په هر شان چې هغه نسبت د خوېښۍ د وادهٔ کار سرانجام کیدهٔ په هغه درنګ به ئې وکړ ډیر عالم به درمانده ورته راغے مشکل به ئې اسان شهٔ. نقل دے چې د یو شخص د وادهٔ په کار د لور د پلار کره ورغے هغه شخص ته ئې ډیر څهٔ ووئیل هغهٔ عذر وکړهٔ چې ماته هومره هومره سرانجام بویه. زهٔ دا زمان هومره سرانجام نهٔ لرم چې حال في الحال لور وادهٔ کړم. هر ګاه چې سرانجام د وادهٔ تیار کړم هله به دا لور وده وم. دهٔ ورته ووې چې دې ما توفیق رسي هم دا هومره سرانجام بس دے هغه ډیر سرانجام دا دې ما راتلهٔ دې تا عذر دے دا لور وادهٔ کړه. هغهٔ قبول [۱۴۲۲] نهٔ کړه. دے په کور ناست پریښ هغه شخص ځنې ځان وغوړوهٔ د پښاور په لورې روان شهٔ په لار کېنې څوک ورته ناست وو په غشې ئې وویشت هغه زمان ئې مړ راوړ. ګاه به ئې خرونه حلال کړهٔ په بیدیا به ئې ګیدړو لیوانو مرغونو ته واچول. ګاه به په وخت د مستۍ کېنې بنهٔ داریه او دپ او سندرې او سماع به ئې کاوهٔ. نظم:

چہ دانی کہ شوریدہ حالان مست | چرا برفشانند بر رقص دست
کشاید درے بر دل از واردات | فشانند سر دست بر کائنات
برقص اندر آینہ دو لاب وار | چو دو لاب بر خود بگیرند زار

پـه هغه وخت کښې به ئې زنانه زیور د زرو اقسام په ځان پورې کاوهٔ او په هغه وخت کښې به ئې مـصافحه د هیچا سره نهٔ کره. **بیان د دهٔ د عادات:** د دهٔ د خـلـې نقل دے چې یوه ورځ حـضرت شیخ سره تنها په خلوت کښې ناست وم شیخ مې ولیدهٔ چې رنګ ئې تر جامې پورې تـمام تـغیر شـهٔ زرد شهٔ پس د یوهٔ ساعت بیا په حال راغے زهٔ په زړهٔ کښې [۱۴۲۳] متعجب شوم شیخ راته وفرمائیل چې ولې متعجب شوے ما ورته ووئیل چې نن مې ظاهر د شیخ تمام بل رنګ ولیدهٔ. دهٔ راته وفرمائیل چې په تا به هم هسې حال راشي لکه زهٔ تا تنها ولیدم تهٔ هم خپل ځـان مـور تـه وښیـه بل چا ته مهٔ ښیه. پس د یو مدت زهٔ هم په خلوت کښې ناست وم په خاطر راغـلـل چـې شیـخ و ما ته دا رنګ فرمائیلي و و هغه خو ونهٔ شول کهٔ ځان ته مې و کتل هم هغه رنګ لـکـه شیخ مې لیدلے وهٔ خپل ځان مې ولیدهٔ مور مې وبلله چې زهٔ ئې ولیدم وې ژړل چې دا تـهٔ څـهٔ شـوے ما ورته ارشاد د شیخ جیو عرض کړ خاطر ئې جمع شهٔ. نقل دے چې له خپلو مـریدانو سره په لار تیریدهٔ مست هاتي وهٔ خوني په لار راغے عالم څنې یو پلو بل پلو وتښتید. د دهٔ مـریـدان هـم تفرقه شول دے برابر راغے ماوت ئې نعرې کړے چې فقیره لرې شه. دے په لار تـهٔ هـم هغسې راتهٔ چې نژدې راغے هاتي خپل سر ټیټ کړ ودریدهٔ. دهٔ ئې لاس په وچ ولږ وواهـهٔ نـور څـنـې روان شهٔ. نقل دے چې خود ئې و مؤلف ته وفرمائیل چې یوه ورځ [۱۴۲۴] دریاب پشکال په سیلاب موج وهلے وهٔ مارونه سیلاب سره ډیر راغلي وو زهٔ د دریاب په غاړ ناست وم دوه لوے مارونه راغلل دواړه مې ونیول راسره مې و سرائ ته راوړل یو زمان راځخ پـه خاطر راغلل چې دا مارونه وژلي بویه جمدهر مې له چا نه واخست د هغه یوهٔ مار په سر م کښیښهٔ بیا یوه مقدمه رایاده شوه هغه مارونه مې دواړه پریښول هغه مقدمه دا وه چې په ابتدا فـقیرې کتابخانه مې وه مینه مې پرې ډیره وه په خاطر راغلل چې دا هم خیرات کړے بویه نو مې حکم د دې چې درنګ در عقوبت شتاب در خیرات په شبه مې په پټار کښې واچول د مرید په سر مې کرهٔ له چشمې د شیخ جیو په لور روان شوم. د عمرې په کلي چې راغلم مابـ د چشـمـې او د شیـخ د درګـاه کـم و زیات نیمه شپه وه چې خوب مې په ستر ګو سرایت و هـغه شاګرد ته مې ووې چې کهٔ چرته یو لږم پیدا شي. مطلب مې دا وهٔ چې ځان پرې وچیچ چـې دا خـوب مـې بـرطـرف شـي. امـا هـغه وخت میسر نهٔ شهٔ چې کتابخانه مې د شیخ جیو وړاندې [۱۴۲۵] یو لړم په هغه پټار کښې پیدا شهٔ ما زر په زر په لاس واخست وهٔ مې و

چې يار در خانه و ما گرد جهان مي گردم تهٔ زمونږ په پيطار کښې وے مونږ دې تا جست و جو کاوهٔ. شيخ جيو ته مې هغه حال ووې نور مې بيا هغه لړم د خپله لاسه کوز کړ. شيخ ضياء الدين چې د شيخ جيو له فرزندانو وهٔ تلاش ئې د لړم د مرګ وکړ شيخ جيو منع کړ چې دا لړم مهٔ وژنه چې دا خبره راياده شوه نور مې هغه مارونه پريښول. نقل دے چې يو ځل ئې خيرات کړے وهٔ حلوا ئې پخوله شاګردانو ئې ووې چې څمڅه نشته دهٔ وفرمائيل چې تاسو اور په ديګ پسې ګرم کانئ څمڅه به پيدا شي. ديګ په جوش راغے ورپاڅيدهٔ لاس ئې پکښې ومانډهٔ هغه حلوا تمامه پخه شوه هالهٔ ئې لاس له ديګ وکيښ. هغه حلوه چې مې ويشله عالم ډير هجوم کړے وهٔ يو مغل سوداګر د ولايت هم د دهٔ په زيارت راغلے وهٔ په نيت د دې چې فرزندان مې نشته کهٔ خدائ فرزندان راکا. او په هغه خلق کښې وروستو ولاړ وهٔ کهٔ دا هجوم کم شي زهٔ به د دهٔ مصافحه وکړم دهٔ نظر وکړ دے خلق ته ئې شا کړ دهٔ ته ئې ووې چې ورشه وروستو چې هغه مغل ولاړ دے رائ ولـه چې رائ وست [۱۴۲۶] له هغې حلوه ئې حلوه ورکړه ورته ئې ووې چې درې يا څلور فرزندان به خدائ تعالیٰ و تا درکا پس د يوهٔ مدت بيا هغه سوداګر له ولايت راغلے وهٔ د دهٔ په زيارت ظاهر ئې کړهٔ چې هغه هسې وشول. نقل دے چې هر بيمار چې به ئې دهٔ لره ورروست اکثر به له رنځ روغ شهٔ او په هر بيمار چې به دے حاضر شهٔ له سخته رنځه به روغ شهٔ او هغه چې به د مرګ وهٔ دے به ورلره نهٔ ورتهٔ. له نصرت خان ترهٔ نقل دے چې چا ورستولے وم په بللو د ميان جيو چې ورغلم التماس مې وکړهٔ راته ئې وفرمائيل چې ټټو مې د سوارۍ په غرهٔ لاړ دے حاضر نهٔ دے. په مسجد کښې ناست وهٔ هغه ټټو پخپله راروان شهٔ لکه څوک وروستو ورپسې وي راغے د مسجد تر چبوترې لاندې چې ميان جيو ناست وهٔ د دهٔ د لاندې پخپله ودريدهٔ زين ئې پرې باندې کړ پرې سور شهٔ روان شهٔ. عالم واړه متعجب شهٔ. نقل دے له مير باز خانه چې وررور د ميان جي وهٔ او له ملک شمشير حسن خيل نه چې دوي دواړو په قسم ياد کړ چې يو وخت کښې ميان جيو مونږ وليدهٔ چې يوهٔ لوېشت يا څهٔ کم و زيات دواړه ستر ګې کوزې تر ستر ګو معلقې زوړندې دي. [۱۴۲۷] بيا ئې خالے لره ورغلے. نقل دے چې يو عالم د دهٔ له مريدانو وهٔ په طريق د زيارتِ ورته راغے. ميان جيو په يوه بلنده پايه زوړندې پښې ناست وهٔ هغه عالم په طريق د عرض سرے ورستوهٔ چې اراده د زيارت لرم کهٔ حکم شي ميان جيو وفرمائيل چې دا وخت د دهٔ د راتلو نهٔ دے. هغه عالم بيا ګستاخانه عرض وکړ چې زهٔ هم دا وخت غواړم چې دې ما وخت نهٔ دے زيارت وکړم هالهٔ ميان جيو وفرمائيل چې راپرېږدئ. هغه عالم چې ورغے دوه درې ګزه لمبه د اور پاس تر سره د ميان جيو پورته بليده. هغه عالم وې چې زهٔ ډير هيبت زده شوم. تاب مې رانهٔ ووړ. شايد

چې دغه هيبت زدګې نقصان دې ما د مراتب شۀ. نقل دے چې ميان جيو په ميان د خپلو
فقيرانو ملاست وۀ اواز د خرا به ئې لکه د اودۀ سړي له حلق ولاړيدۀ. هر مريد چې به په هغه
وخت څۀ خبره وکړه دۀ به خواب ورکړے وۀ. مريد ئې ووې چې ميان جيو کلک په خوب
اودۀ دے مونږ هر څۀ وايو خواب [۱۴۲۸] به راکړ شي. دۀ وفرمائيل چې دررومه وينم دوستا
د خداۓ کۀ په خوب اودۀ کيږي کۀ په توره شپه په توره تيارۀ کښې خسنے په لاس کښې
ونيسي کۀ ګز پاس مې تر خسني لاس دې تا ونيو بهر اواز چې کيږي خواب ورکړۀ شي. د
ډيره اسانه ده. اتفاقاً پس له ډير مدت يو اتفاق پيښ شۀ هغه مريد ته هغه خبره ورياده شو
خسنے ئې راواخست ميان جيو هغه رنګ خريدۀ ګلاب ئې په لاس د هغه مريد ونيو ورته ئ
ووې دا څۀ کړے دوستان د خداۓ تجربه کړے. نقل دے چې ښکاريان په ښکار وتلي وو يو
ښکاري نيله مار په پنډۍ وچيچۀ درسته پنډۍ پړې کړه. هر چا دا وې چې اوس به ئې سا
قبض شي. دروهه ئې د فقير پړې ياد کړه. هغه ښکاري درسته ورځ په پريکړې پنډۍ ښکا
وکړ ګويا هيڅرې نيله مار چيچلے نۀ وۀ. نقل دے چې به چا ضيافت ته وبالۀ خلق به ډې
ورسره ورغے طعام به کم وۀ لاس به ئې طباخ کښې کښيښ کۀ هر څو عالم به وۀ موړ به شۀ
نقل دے [۱۴۲۹] کمال نوميدۀ حسن خيل وۀ د دۀ مريد وۀ سوات ته لاړ وۀ په سوات کښې
په يوۀ شخص پيښ شۀ. هغه شخص ورته ووې چې تۀ فقير جميل بيګ هم چرې وينے دۀ ور
ووې چې اکثر اوقات ئې وينم. هغه شخص ورته ووې چې دې ما د خلې ورته ووايه چې تۀ حق
تعالیٰ په غيبو خزانو خبر کړے ئې په څۀ سبب دې قوم ته نۀ ورکوے. هرګاه چې کمال ا
سواته راغے په مجلس د ميان جيو مشرف شۀ پس له يوۀ ساعته پاسيدۀ چې زۀ هغه خواب
هغه شخص په عرض ورسوم. ميان جيو د دۀ تر خواب پخوا ورته ووې کښينه کښينه خوابو
ئې راوړې دي. نقل دے له ملا خواجه محمد مير خيل نه چې دۀ وئيل چې دې ما مال ورک
شۀ ياران چې په دا واقعه خبر شول راته ئې ووې چې کور ته ورځه تفحص او تجسس د خپل
مال وکړه. ما ورته ووې چې بې د ميان جيو له حکم په دنيوي مال پسې نۀ ځم. يوۀ يار د
حقيقت ورته عرض کړ فقير په حالت د سکر وۀ په جذبه ئې راته ووې چې ورځه [۱۴۳۰
غور د خپل مال وکړه. خو چې کور ته راغلم مال مې بياموند شۀ. نقل دے چې ابتدا د حا
کادي او بادي بدبختان چې پخوا ذکر د دوي د روبه بازۍ ځائے په ځائے تير شوے دے اراد
ئې د مريدۍ د فقير ورروړې وه بيا په خپل بدبختي مردود طريقت شول. دا مقرر دي چې
مردود شريعت توبه قبليږي اما د مردود طريقت توبه نۀ قبليږي. باوجود د پيرۍ د مريدۍ
فقير هم د دوي خسر هم د دوي سکه ترۀ وۀ په باب د ذکر جهر او خفيه چې مختلف فيه

مسئله ده خپل فرزندان ئې ورته ودرول تا بحدے چې شيخ احمد ته ئې روان کړ چې شيخ احمد ته ورغلل مصرع:

قدرزرزرگرشناسدقدرجوہرجوہری

د فقير ئې ډير عزت او حرمت او خدمت وکړ او فرزندان ئې د فقير ډير تنبيه کړهٔ ذوالنون هم چې خوړے د بادئ وهٔ په گفته د دوئ په باب د ذکر جهر په فقير توره وکېنه موتړے د توري په لاس ورغے توره ئې په زمکه لگيده کادي او بادي ظلم پيشه وو[۱۴۳۱] په هغه کلي کښې ئې چې استوگه وه په هغه عالم به ئې هميشه ظلم کاوهٔ. چا له هغه کليه استغاثه د دوي د ظلم و فقير ته وروړه. فقير ورته وفرمائيل چې خاطر جمع لرئ اخر به کورونه د دوئ چړچوبی او ډيران ستاسې شي. اخر چړچوبي او ډيران شول. فرد:

هغه کس به تر ابده ولاړ نهٔ شي هر چې پريوځي د فقير د زړهٔ له اړکه

نقل دے له نيک بخت چې خانه زاد قديم الخدمت وهٔ چې يوه ورځ حضرت بي بي چې والده د مؤلف وه او نهايت سخي او په طاعت په عبادت به د الله تعاليٰ شب و روز مشغوله وه په هر ملک په هر بلاد چې څوک ملا درويش وهٔ همه د دې وظيفه خوار وو. ډيره فقير دوسته وه. زهٔ ئې يوه ورځ فقير جميل بيگ لره ورستولم چې د مؤلف د فرزند دپاره دعا دې وکا. زهٔ ورغلم په ډير الحاح مې څنې دعا وغوښته سر ئې يو زمان په مراقبه کړهٔ راته ئې ووئيل چې نيک بخته تهٔ يو فرزند غواړے ما في الحال دوه وليدل نور به هم پسې وشي. په لږ مدت کښې له بي بي آسيې [۱۴۳۲] چې کور د مؤلف دے دوه فرزندان محمد علي او محمد حسن څنې پيدا شول. او اميد د نورو شته. او د بل کور دپاره ئې مکرر په ډير الحاح ورستولم چې هغه د بي بي وريره وه اما هيڅ خواب ئې رانهٔ کړ. د هغې هيڅ ونهٔ شول. نقل دے چې د فقير قدس سرهٔ طريقه وه چې د چا لاس به نهٔ رسيدهٔ تنگدست به وهٔ د هغه شخص وادهٔ به ئې حسبة لله وکړ. مدد او امداد به ئې هم ورسره وکړهٔ يوهٔ شخص کره راغے ورته ئې ووې چې لور دې وادهٔ کړه. هغه شخص بې ادبي وکړه انکار ئې راوړ لور ئې له کوره وويسته سور شهٔ روان شهٔ چا عرض وکړ چې ميان جيو جل ئې روانه کړه سور شهٔ. فقير وفرمائيل چې کهٔ دا کار د خدائ دپاره دے له خدايه به چړته څي. هغه شخص هغه درنگ له تښتو پريوت گډ شهٔ. نقل دے چې د يو شخص څلويښت روپۍ فقير ته په طريق قرض ورته وے قرض دار راغے خپل قرض ئې وغوښت. فرزندانو ته ئې ووې چې دې ما حجرې ته ورشئ لوښي وگړبوئ کهٔ څهٔ پيدا شي ورکړئ. فرزندان ئې ورغلل لوښي ئې وگړبول[۱۴۳۳] هيڅ ئې بيا نهٔ موندل پستنه راغلل. بيا فقير ورته ووې ورشئ لوښي وگړبوئ په درې کرته ئې لوښي ولټول هيڅ ئې

بیا نۀ موندل. څلورم ځل چې ورغلل هغه لوښي چې دوي درې ځله ډیر په تحقیق لتولي وو په هغه لوښیو کښې یوه کونډۍ د روپیو ډکه پرته وه رائ وړه. فقیر هغه قرضدار ته ووې خپل قرض وشماره واخله پوره څلویښت روپۍ وې. نقل دے چې فقیر د جلبی نه راتۀ ملاخانو عرض وکړ چې کۀ فقیر څخو توقف وکا چې بیړی لاهو نۀ شي فقیر حکم وکړ چې بیړی ګډه کړئ چپې مۀ وهئ. بې چپو بیړی برابره پورې وته هیڅ تفاوت د کوز پاس پکښې ونۀ شۀ. (۱)

ذکر د میان الله داد چشتي: په اصل رانې زے دے په تجارت د غلې پښاور ته راغلے وۀ سر ئې خوړیدۀ په یو مسجد کښې پروت وۀ یو شخص له هندوستان وۀ چې طریقه چشتیه ئې درلـه مرید ورسره وۀ هغه مرید عرض ورته وکړ چې ما ډیر خدمت دې تا وکړ امید وار یم چې مستفید شم. هغه بزرګ ورته ووې [۱۳۳۴] چې زۀ تهجد وګزارم هغه وخت تۀ حاضر شه هر چې دې نصیب وې بیا به ئې مومے. نقل کا چې په هغه وخت بزرګ تهجد وګزارل مرید غافل شۀ میان الله داد پرې حاضر شۀ توجه ئې په میان الله داد وکړه سعادت د دۀ روزي شۀ.

نقل دے چې میان الله داد په چکدره د مجلس سره ناست وۀ په هغه مجلس کښې بعضو ووې چې میان دریغه تورې پیښې شوے چې مونږ دې تا د وړالدې جنګ وکړے. دۀ ورته وفرمائیل چې توري ګرانې دي لاڅې مۀ کانئ. لاڅې د ځوانانو تر غاړې شي. دوي بیا مبالغه وکړه دۀ ورته ووې چې ښه خدائ توفیق درکړه. په هغه زمان د سوات له سیند عظیم اژدها راووت برابر په هغه مجلس راغے هغه تمام مجلس بې تکلیف تار په تار دۀ کړ. هغه اژدها راغے د میان الله داد تر څنګ تیر شۀ چې هغه ځلمي راغلل دۀ ورته ووې چې ما تاسو ته وې چې لاڅې مۀ کانئ تاسو نۀ پوهیدئ. واړو توبې وکښے تر پښو ئې پریوتل. نقل دے [۱۳۳۵] چې میان الله داد په سرود اوریدۀ عالمانو په تعصب د دین یو د بله ووې چې راشئ چې اظهار د امر معروف وکړو اخر الامر عالمان ورروان شول چې په حجره ورغلل نظر ئې وکړ میان الله داد ته سرود خود په خود غږیدۀ. عالمانو تعجب وکړ خاموش پستنه راوجاروتل.

ذکر د راول فقیر: په اصل خټک وۀ هوتے وۀ استوګه وطن ئې پښاور په بډه بیره کښې وۀ. کور قبیله روزګار ئې وۀ. اتفاقاً یوه ورځ په بډه بیره کښې هم د دۀ د عزیزانو یوه کونډه وه په اصل هوتی وه. دے پرې مئین شۀ هغې ته ئې خواهش د تزویج ظاهر کړ هغې قبول نۀ کړ. ځپله ارتینه ئې طلاقه کړه مال و ملک ئې خیرات کړۀ فقیري ئې اختیار کړه. خپل طاعت عبادت به ئې کاوۀ. تنها به ئې استوګه کړه. په مجلس به د بزرګانو حاضریدۀ. د شیخ الله داد مندونړي سره ئې محبت ډیر وۀ اکثر به ورتۀ. پس د شیخ الله داد د وفات به هم په څو مدت د دۀ فاتحې ته راتۀ. دوه مقامه ئې د استوګې وو یو د [۱۳۳۶] بډه بیرې د مشرق رویه کمر دے

په هغه کښې د دهٔ دوه غارونه وو په يوه کښې به ماته کلپی ماته کاسه يو کودے پراتهٔ وو په يوهٔ کښې بهدے وهٔ. څو به د دهٔ وجود پکښې ځائيدهٔ. بل مکان ئې په تيرې د هوتيو په کلي کښې چې هغه اوجاړه وه هم دا رنګ دوه تاکچې ئې سازې کړے وے په صحرا کښې يوه چينه وه په پاؤ کروه تر هغې اوجاړې مفاصله ئې درله. هورې به ورتهٔ اودس به ئې کاوهٔ يو وداني د کليو ورځنې لرې وه چې به وړے شئ وداني ته به ئې تلو. څهٔ چې به ئې په لاس کښيوتل درې حصې به ئې کړهٔ يوه حصه د ميلمانهٔ د خرڅ دپاره يوه حصه د وحوش د طيور صحرائي دپاره يوه حصه د خپل صرف دپاره. په هر څو ورځې چې دا مال صرفيدے وداني ته نهٔ راتهٔ. هر ګاه چې به دا مال صرف شهٔ نور به وداني ته راغے کهٔ چا به ضيافت دپاره ستنوهٔ ورته به ئې وئيل راشه هسک وکړو کهٔ دې تا د کور هسک ورسيدهٔ دې تا کره به اوسم کهٔ د بيديا ورسيدهٔ [۱۴۳۷] بيديا ته به خم اکثر به ئې هسک د بيديا ورسيدهٔ. د چا خاطر به ئې نهٔ آزرده کولو. ګاه ګاه به د هغه ارتينې په ديدن ورتهٔ تر ايام پيرۍ پورې چې دواړه سره په اويا هشتاد سالګي رسيدلي وو او هر څوک چې به په مخه ورغے ځنې به ئې سوال وکړ چې نصيحت راته وکړه. ورته به ئې وئيل چې بې مينې مهٔ اوسه په څهٔ مئين شه. يوه ورځ زهٔ (مؤلف د کتاب) د هغهٔ غار په نزديکې ورغلم کښيناستم سرے مې ورستوهٔ چې راشه چې دې تا ديدن وکړم. راغے په مات کنډولي کښې د يو قسم غلې ګونګرې راوړل. سلام عليکم ئې وکړ کښيناست. وهٔ مې ليد ډير پير شوے وهٔ وچ کاک وهٔ پنډۍ ئې سپې چيچلے وه په چيړرو ئې ترلے وه. چا ځنې پوښتنه وکړه پنډۍ دې ولې سپې چيچلے ده دهٔ ورته ووئيل سپې د عاشقانو غليمان دي. نقل دے هغه ارتينه چې دے پرې مئين وهٔ چا ځنې پوښتنه وکړه چې چرې په ديدن درځې. نقل ئې د مجنون ورته وکړ چې اوس زهٔ خود د ليليٰ شوے يم. نقل دے له ابراهيم خان اکوړ خيل نه چې دهٔ وې چې زهٔ په پيښور کښې په قيد وم [۱۴۳۸] هيڅ کس ماته پريښوے نهٔ شهٔ اما دې ما د راول فقير ګډ ښهٔ اخلاص تر ميان وهٔ. خبر شهٔ راغے هيڅا منع نهٔ کړ. پوښتنه ئې راځنې وکړه چې نن څهٔ ورځ ده. ما ورته ووې چې نن فلانه ورځ ده نور ئې زر ووې چې په دا جمعه کښې ګوره خدائ څهٔ وکا. په هغه جمعه کښې له قيده خلاص شوم. (۱)

[۴۴۹] ذکر په بيان د ختم د کتاب او بيان د بعضې انساب (۱)

زده کړه چې حق سبحانه تعالیٰ په خپل کرم عميم قيس عبدالرشيد ته چې په خطاب د پټهان ئې شهرت موندلے دے او شجره ئې د نسب په څلور ديرش واسطې په افغنه بن ارميه او په اووهٔ ديرش واسطې په ملک طالوت او په دوه څلويښت واسطې په مهتر يعقوب اسرائيل الله او په پينځهٔ څلويښت پيړی په حضرت ابراهيم خليل الله او په درې شپيتهٔ واسطې و

حضـرت آدم صـفي الله ته رسي. بلكې په دريم فصل كښې دا مذكور شوې دې حق تعالي پـتهـان ته درې فرزندان سعادت مندان كرامت كړۀ. اول سړه بن دويم بيټن دريم غورغشت. او لـه هـر يـوۀ نه اولاد ډير پيدا شۀ. او په قول د بعضې مؤرخانو تيرصو پينځۀ نوي طائفې دي. سړه بني صل پينځۀ خيله دي. او بيټني له متي اووۀ اويا خيله دې. او په دا كښې بيټني پينځۀ ويشت خيلـه او متـي دوه پـنـځـوس خيـله دي او غورغشتي پينځۀ نوي خيله او كرلاني صل پيـنـځۀ ويشت خيله چې شهرت ئې په پټهان موندلے دے. او دا مذكور به ذكر په درې فصله شـي. فـصل اول په بيان د اولاد د سړه بن. فصل دويم په تذكره د اولاد د بيټني فصل دريم په مـذكور د اولاد د غورغشتي او د كرلاني. فصل اول په بيان د اولاد د سړه بن. حق تعالىٰ سړه بن ته چې خوے د پټهان وۀ دوه فرزندان عنايت كړۀ. يو شرخبون او دويم خرشبون. **ذكر په بيان د شرخبون د اولاد**: له دۀ پينځۀ فرزندان په وجود راغلۀ. شيراني او ترين او بړيڅ او ميـانـے او اورمړ. او اورمړ چې پينځم خوے د شرخبون وۀ. شرخبون په لُور د يوۀ لوهار عاشق شـۀ پـه نكاح ئې كړه له هغې ارتيني ئې فرزند پيدا شۀ نوم ئې اورمړ كښيښ اورمړ ډير دولتمند شـۀ پـه عـالـم كښې ئې شهرت بياموند فقط. ذكر دے په بيان د شيراني د اولاد. زده كړه چې شيـرانـي خـوريـے د كـاكـړ دے. هـر گاه چې بلاغت ته ورسيد مور ئې مړه شوه او پلار ئې بله ارتيـنـه وكـړه. او لـه هغې نور فرزندان پيدا شول. شرخبون وغوښتله چې نوم د ملكې په ترين چې مشر خوے وۀ كيږدي. په دا سبب شيراني له پلاره او له ورونو آزار شۀ او پيغام ئې كاكړ تـه واستـوۀ چـې زۀ دلتـه ازار يـم راشـه مـاله ځانه بوځه. كاكړ په مجرد د اوريدو د دې خبر له فـرزندانو سره روان شۀ او شرخبون ته راغے او وې وئيل چې تۀ شيراني له ما سره كړه چې دې ما له فرزندانو سره تربيت شي. شرخبون رضا نۀ كښيښنوه. هر گاه چې مبالغه تر حده تيره شوه معلوم ئې كړ چې شيراني هم په تلو راضي دے له مخه د قهره شرخبون او فرزندانو د دۀ ووې چې پـريـږدئ چې شيـرانـے بوځي. كۀ يو شيرانے [۴۵۰] نۀ وي كوم نقصان دے. پس له هغه كاكړ شيرانے و خپل وطن ته راوست او په تربيت او قابليت ئې سرگرم شۀ. خويښانو عزيزانو كـاكـړ تـه ووې چـې دا رنـځ او تصديعه چې په حق د شيراني ځكوے واړه ضائع ده. په دا چې هـرگـاه وكـمـال تـه ورسـي و قبيلې ته به د پلار ورشي. ځان ته به سړه بنے وائي. نور شيراني ووې چـې ما له خدايه وعده كړې ده چې ځو ژوندے يم هومره ځان ته به غورغشتے وايم. پس لـه هـغـه ئې عهد و قول وكړ او خاطر ئې د دوي جمع كړ. او خپل ځان ئې په غورغشتي داخل كـړ. حـق تـعـالـىٰ شيراني ته يو فرزند وركړ نوم ئې د هغۀ جار كښيښ او له جاره فرزندان پيدا شول. ذكر په بيان د جار د اولاد چې خوے د شيراني وۀ. له دۀ درې فرزندان وشول ودم ا

جلواني او هريهال. د ودم څلور زهمن تولد شول. سيداني، بابړ، مياني، عمر او د جلواني اووهٔ زهمن پيدا شول شپږ اصلي او يو وصلي چې هغهٔ ته بکني خيل وائي. او سلار خيل او مروت خيل او سپندړي او مهيار او کونګري او نسري او بکني خيل او د عمر اووهٔ زهمن پيدا شول. کبيب او يعقوب او جهين او متخر او ابوالفرد او ماهين او حميم او بکني خيل چې په خوي جلواني ياد کړے وهٔ پينځهٔ فرزندان ترې وزوول. سرياني، من خيل، دولت خيل، بويا خيل لندعمر او له حميم چې خوړے د عمر وهٔ اووهٔ زهمن پيدا شول. اووهٔ واړه اووهٔ تپې شول. شهمير خيل، دولت خيل، من خيل، بويا خيل، عمر خيل، موسىٰ خيل، پنيازون. ذکر په بيان د بابړ د اولاد چې خوړے د ودم وهٔ. د دهٔ دوه زهمن وشول انجر او سنجر او له سنجره چې خوړے د بابر وهٔ پينځهٔ زهمن پيدا شول. مسعود خيل (۲) غوريا خيل، ابراهيم خيل اسماعيل خيل يعقوب خيل.

ذکر په بيان د ترين د اولاد چې خوړے د شرخبون وهٔ. له ترين نه درې زهمن په وجود راغلل تور او سپين او اودل. ذکر په بيان د تور له تور څلور زهمن پيدا شول ملمونے، کندرين، شينکے، بابو او ملموني چې خوړے د تور وهٔ شپږ زهمن تولد شول مندوزے، منګل زے، نيک بختانے، منازے، ترلزے، هارون او هارون ته چې خوړے د ملموني وهٔ الله تعالىٰ انهٔ فرزندان ورکړهٔ. تورزے، ملک يار، اسماعيل زے، يادوزے، چندن زے، يعقوب زے، ابابکر زے، کربلا، سيدزے. نقل دے چې هرون ولد ملموني مفلس او بينوا وهٔ يوه لُور او يو اس او يوه بزه ئې درلـه او خود به ئې هميشه ښکار کاوهٔ قوت به ئې له ښکاره وهٔ. يوه ورځ په قديم عادت د ښکار ته لاړ وهٔ څلور تنه ولي الله د هارون کره راغلل. او يو هلک هم ورسره وهٔ چې نخښې د بزرګۍ په وچولي د هغهٔ ښکاره وے. ارتينه د هارون ډيره عاقله وه خدمت ئې د بزرګانو په ځائے راوړ. او هغه بزه ئې ورته نذر کړه. او عذر ئې د خپل افلاس [۱۴۵] وغوښت چې په کور کښې دا يوه بزه لرم. بزرګان له نيک نيتي د هغې صالحې ډير رضامند شول. هغه بزه ئې حلاله کړه او کباب ئې کړه او نوش ئې کړه. په دا ميان کښې هارون له ښکاره کور ته راغے. تواضع او خدمتګارې د درويشانو ئې تر هغې صالحې زيات په تقديم راوړه. هر ګاه چې درويشانو رخصت غوښت هارون اس او لُور بزرګانو ته عرض کړهٔ او وې وئيل چې په کور کښې دا څهٔ لرم دا قبول کړئ. درويشانو په همت د هارون آفرين وکړ او دعائے د خير په حق د دهٔ وکړه او وې وئيل چې حق تعالىٰ به اووهٔ زهمن له دې ارتينې تاته عنايت کا او دا هلک سيد جمال نومي او نجيب سيد دے مبارک دې تا ته په فرزندی وي او بو بل هلک هم تر فلانه ونې لاندې پروت دے کربلا نومي او سيدزاده دے هغه هم واخله او

رائ ورہ. انشاء الله دولت به دې تا بې شماره شي. او په ترین کښې به په اولس زيات شي.
هارون کربلا کور ته راور له هغه ورځې دولت د هارون مخ په زياتي ونيو او اووهٔ زهمن له
نسه د هغې نيک بختې تولد شول. هو خبره د مردانو ځائې لري. بيت:

ډيــر خـلعـت د كـاملانو كـړے بويـه ‏ ‏ ‏ چې هر خواست ئې له خاونده مستجاب شهٔ

ذكر په بيان د ابابکر چې خوږے د هارون وهٔ د ابابکر څلور فرزندان پيدا شول. احمد هيكل
خان (١) هديا او زهمنو ته د سيد جمال سيدزي وائي. او د شينكي چې خوږے د تور وهٔ دوه
زهمن پيدا شول كوک او بادي.

ذكر په بيان د مياني د اولاد چې خوږے د شرخبون وهٔ. حق تعالىٰ مياني ته ديرلس زهمن وركړ
دولس اصلي يو وصلي هغه ئې سيد زاده لوے کړے وهٔ. غوزنے، لورنے، مكهے، دولت
صلاج، چوث، اشكون، لوانے، رهوانے، توغ، سعادت (٢) او خرسين سيد زاده وهٔ. (٣) او
اشكون دوه زهمن وشول. زيري او كتران. او د توغ شپږ زهمن وشول سوار، استمره
كيكے، مرغے، آور، اهليس. ذكر په بيان د بريڅ د اولاد. بريڅ چې خوږے د شرخبون وهٔ دو
فرزندان ئې وو داؤد لغ (٣) او حسين او داؤدلغ چې خوږے د بريڅ وهٔ شپږ زهمن ئې وو شي
ثابت ملهي زے، بدل زے، چوهان زے، شكرزے، بسوک زے او د حسين چې خوږے د بريڅ
وهٔ پينځهٔ فرزندان وو يازک زے، بسازے، زموزے، ميدوزے، داؤدزے. ذكر په بيان
خرشبون د اولاد چې خوږے د سړه بن وهٔ. الله تعالىٰ دهٔ ته درې زهمن وركړهٔ كند، زمند
كانسي. او د كند چې خوږے د خرشبون وهٔ دوه زهمن وو غورا او شيخا او د غورا چې خوږے
كند وهٔ پينځهٔ زهمن وو دولت يار، خليل، متوزے، زيران، جوكن او د دولت يار چې خوږے
غورا وهٔ دوه فرزندان وو. مهمند، داؤدزے. او د مهمند چې خوږے د دولت يار وهٔ يوولس
زهمن وو يعقوب كالا [٢٥٢] حسن، ملهي، عمر، مندو، نزل، شے زے، او اووهٔ زهمن له بي بي
دويه چې خور د شيخ ملهي قتال ده تولد شول. او په دوې كښې دوه لاولد پاتو شول. او څلو
زهمن له بلې ارتينې چې خاتونه نوميده پيدا شول. ميار، كوكو، موسىٰ او د ميار چې خوږے
دولت يار وهٔ څلور زهمن وشول بهوزي، رخړ، دولتشه او يوسف او د داؤدزي چې خوږے
دولت يار وهٔ درې زهمن درلل. مامور، يوسف، مندكے او دے مامور چې خوږے د داؤدزي و
اتهٔ زهمن درلل. علي زے، بائيزے، سيدزے، بازيد خيل، يونس خيل، محمد خيل، تاجو خي
او د مندكي چې خوږے د داؤدزي وهٔ درې زهمن پيدا شول حسين، نيكو، بابو. نقل دے چې
مندكي دوه ارتينې وے حسين له يوې موره او نيكو او بابو له بلې موره وو. هر گاه چې مندكي
فوت شهٔ ميرات و حسين ته پاتو شهٔ. په دا سبب د نيكو او د بابو له حسينه عداوت پيدا شهٔ.

او وې غوښتل چې حسين مړ کا. او دے له دې واقعې خبر شوے وۀ نيکو او بابو و کښلے تورې نيمې شپې په مرګ د حسين راغلل. شو ګزاره ئې په خوابګاه د حسين وکړ ليکن حسين له دوې خبر وۀ. بل ځائے ملاستې ته لاړ وۀ. سبا ئې د وخته حسين ژوندے وليد نيکو په لور د هندوستان او بابو په بل طرف لاړ شۀ. او حسين په وطن کښې پاتو شۀ. او د خليل چې خوږے د غورا وۀ اتۀ زهمن وو ساک، بارو، ترل، متې زے، تورزے، انوزے، اکازے، سلارزے، او د شيخا چې خوږے د کند وۀ ځلور زهمن ئې وو ترکلائے، ګګيانے، عمر، يوسفزے او د ګګيانې چې خوږے د شيخا وۀ دوه زهمن ئې وو هوتک، سيدا. او د عمر چې خوږے د شيخا وۀ يو فرزند وۀ نوم ئې مندړ کښيښ. لور ئې د خپل ترۀ چې يوسف وۀ وغوښته په دا سبب دۀ وته يوسفزے وائي. او يوسف زے دوه تپې شوے. يو يوسفزے او بل مندړ او د يوسف ځلور زهمن وو. الياس، اکو، مهلي، عيسيٰ او د مندړ هم ځلور زهمن وشول، منو، خدر، رځړ، مامو او په دېو ځلوررو کښې خدر په مرتبه د ولايت ورسيدۀ. او دے په ځلور قطب کښې شمارې او د منو چې خوږے د مندړ وۀ درې زهمن وشول سدو، اکا، کنا، علي او د سدو چې خوږے د الماس وۀ شپږ زهمن وشول. بهزاد، خضر، ابا، محمد، عمر، مير احمد او د بهزاد چې خوږے د سدو وۀ يو فرزند وشۀ. ورته ئې خان کجو وئيل. واړه يوسف زې مطيع او فرمانبردار د دۀ وو. او وائي چې خواجه خضر پرې پيښ شوے وۀ. او له شير شاه بادشاه سره ئې دم د مخالفت وهلے وۀ. (١) ذکر د زمند چې خوږے د خرشبون وۀ د دۀ پينځۀ زهمن پيدا شول خويشکے، نيکي زے، کتانے، نوحے، مهمندزے [۳۵۳] او د خويشکي شپږ زهمن تولد شول او د شورياني چې خوږے د خويشکي وۀ شپږ فرزندان وشول. وتوزے، حسين، اچو، ايرپ، بهدين، ابراهيم او د وتو چې خوږے د شورياني وۀ يو خوږے وۀ اولاد وته ئې مچون زې وائي. اوس په مرتبې د ولايت په مسند د هدايت ناست دے. او د کتانې چې خوږے د زمند وۀ دوه زهمن وشول عيسيٰ او عمر. د عيسيٰ دوه زهمن دوالازے ملازئ او د نوحي چې خوږے د زمند وۀ پينځۀ زهمن وشول تنے زې، امجے زې، منصور زې، جميل زې، باجوزې او د کانسي چې خوږے د خرشبون وۀ الله تعاليٰ دولس فرزندان ورکړۀ. محمد زے، انوزے، زمرانے، شنوارے، کهتر، سالا، کويمار، سام زې، سيلخ، سلت، همترې په خوږے ياد کړے وۀ او سرون.

فصل دريم د بيتنې چې خوږے د پټهان دے په ډير طاعت او په رياضت په مرتبه د ولايت ورسيدۀ. ځکه ئې ورته شيخ بيټ وئيل. حق تعاليٰ دۀ ته درې زهمن او يوه لور کرامت کړه. اسماعيل، اشپون، کجين او نوم ئې د عاجزې متو کښيښ. نقل دے چې سره بنې دولت نۀ درلۀ مفلس وۀ او باوجود د احوال له سعادته د فرزند محروم وۀ. يوه ورځ سره بنے و کور ته د

بیټني راغی او عرض ئې وکړ چې لکه پخوا دا حقیقت کښلی شوی دی چې اې وروره دعا په حق دې ما وکړه چې دولت مند شم او فرزندان حق تعالیٰ راکا. حضرت شیخ وفرمائیل چې یو خوی دې ما له خانه بوځه او پرورش ئې کا چې په یمن به د دهٔ د قدم دې تا مال او اولاد ډیر شي. پس له هغه کجین چې خوی د شیخ وهٔ له خانه ئې و کور ته روان کړ. هرګاه چې لا هلک وهٔ له لارې تری پټ شهٔ. سره بنې هم ورپسې راغی او حقیقت ئې و شیخ ته ووې. کجین مور ته ورغی د خپلې معافی ئې زارې وکړه پس له هغه اسماعیل چې مشر خوی د شیخ بیټ وهٔ وې وئیل چې هغه هلک دی څهٔ رنګ سفر اختیار کا کهٔ وفرمائی زهٔ به په خدمت د ترهٔ روان شم. وې فرمائیل ډیر بنهٔ. په برکت د اسماعیل د قدم دولت او اولاد ئې هومره ډیر شهٔ چې تر قیامته کمیدونی نهٔ دی او اسماعیل په ډیر ریاضت په مرتبه د ولایت ورسیدهٔ او مقبره او ګنبد ئې په کوه سلیمان واقع دی. او اولاد د هغې عاجزې چې متو نومیده ورته متي والي. اوس مذکور د شیخ د فرزندانو دی. اشپون ته حق تعالیٰ شپږ زهمن ورکړهٔ ابراهیم، مریانی، ورغازي، غرون، سخې، کزبونی او د ابراهیم دوه زهمن وشول یو جمل د دهٔ نوم ئې روتانی کښیښی او بل سید زاده په فرزند ئې لوی کړی وهٔ. د دهٔ نوم ئې کوتی کښیښی. او د روتاني چې خوی د ابراهیم وهٔ دوه زهمن وشول. بالمیر، سهمیر[۴۵۴] او بهذ چې خوی د بهمن وهٔ پینځهٔ زهمن وشول. یوسف، لبنکری، ابوالفرح، تنکرلانی، باغي او د مریاني چې خوی د اشپون وهٔ دوه زهمن وشول چاکي او دومر او د چاکي چې خوی د مریاني وهٔ شپږ زهمن وشول. شاه ملک، تاجو، جیني، ملا خیل، سیکري، رم، دیو او د غرون چې خوی د اشپون وهٔ شپږ زهمن وشول ستي، واکي، ترکني، تائب خیل، غوري زی، ادرک زی او د کجین چې خوی د بیټن وهٔ درې زهمن وشول ګیسو، بشککنی، دودزی او درازدی په فرزند ئې لوی کړی وهٔ. درې واړه داخل په اولاد شول. ذکر په بیان د اولاد د بي بي متو چې لور د شیخ بیټن وه. زده کړه چې په سلسله کښې د متي ډیر اختلاف واقع وهٔ. اما اوس له ډیو تواریخونو دا رنګ معلوم شول چې سلسله د متي د نسب دا رنګ روانیږي چې په زمانه د خلافت د عبدالملک چې خوی د مروان وهٔ حجاج چې خوی د یوسف ثقفي او سپه سالار د دهٔ وهٔ په ډیر جمعیت ئې په ولایت د غورستان تعین کړ فی الجمله تفرقه په دا ملک کښې ګډه شوه یو خوان له امیر زادګانو د غور شاه حسین نومیدهٔ په سبب د کشمکش او حوادثات روزګار آزردګي ئې له عزیزانو وشوه. نور ئې له خپله وطنه سفر اختیار کړ اتفاقاً و قبیلې ته د شیخ بیټ راغی او نسبت د دهٔ د راتګ په قید د قلم راځي چې شاه حسین د شاه معزالدین د جمال الدین حسین د سلطان بهرام چې حاکم د ملک د غورستان وهٔ او دی په خلافت د امیر

المؤمنين حضرت علي كرم الله وجهه په ملازمت د امير و كوفې ته راغے. او په شرف د ملازمت مشرف شهٔ. او فرمان ئې په خپله نامه په ضبط د غورستان راوړ. او د سلطان بهرام دوه زهمن وو د مشر نوم ئې سلطان جلال الدين وهٔ او سلسله د نسب د محمد سوري چې دريم نيكهٔ د سلطان معزالدين محمود چې خوے د سام غوري وهٔ او په سلطان شهاب الدين ئې شهرت موندلے دے او په هندوستان كښې اسلام له دهٔ تقويت موندلے دے او قلعه د سيالكوټ له دهٔ بنا شوې ده. په جنگ كښې مړ دے. دهٔ ته رسي. او كشر خوے د سلطان بهرام په نامه جمال حسن وهٔ چې نيكهٔ د شاه حسين وهٔ او كاروبار د سلطنت په خاندان كښې ئې د مشر خوي او نسب د سلطانانو د غور د ضحاك او د ماران سره چې ورارهٔ د عاد بن سام بن نوح عليه السلام وهٔ پيوسته كيږي پس له جمشيده په سلطنت فارس ناست وهٔ. او سلسله ئې د نسب د سلطانانو د غور په تاريخ د خراسان تر ضحاكه او تر ماران پورې دا رنگ روانيږي. چې سلطان بهرام د سلطان [۴۵۵] جلال الدين، سلطان جلال الدين د سلطان معزالدين سلطان معزالدين د سلطان بهرام، سلطان بهرام د فريدون، فريدون د بهمن، بهمن د سلطان اقبال، سلطان اقبال د سلطان طغرل، سلطان طغرل د سلطان بزرگ، سلطان بزرگ د جمشيد، جمشيد د تگين، تگين د بهمن، بهمن د افراسياب، افراسياب د طهماسپ، طهماسپ د فريدون، فريدون د جمشيد، جمشيد د اسفند يار، اسفنديار د ظفر تگين، ظفر تگين د داراب، داراب د متهال، متهال د تور، تور د سكندر، سكندر د تناسب، تناسب د خسرو، خسرو د مندر، مندر د سام، سام د كاوؤس، كاوؤس د زهراب، زهراب د كامياب، كامياب د كودرزين، كودرزين د سلامان، سلامان د جمشيد، جمشيد د هرمز، هرمز د قباد، قباد د بهرام، بهرام د تناسب، تناسب د تورخ، تورخ د فريبرز، فريبرز د آزردشت، آزردشت د ارسلان، ارسلان د ضحاك، ضحاك د ماران، ماران د رس، رس د سام، سام د نوح عليه السلام. حاصل د كلام دا دے چې سلطان بهرام چې نيكهٔ د شاه حسين وهٔ په اتهٔ شلويښت واسطې و ماران ته رسي. راوړي ئې دي چې هرگاه فريدون په ضحاك غالب شهٔ او ضحاك په غرهٔ د دماوند كښې سرنگون په كوهي كښې زوړند كړ او حكم ئې په قتل د دهٔ د اولاد وكړ دوي په هيڅ صورت خلاصے له لاسه د فريدون نهٔ ليدهٔ لاچار له اصطخره د فارس چې مستقر د خلافت د سلطانانو د عجم وهٔ وتښتيدل. پناه ئې كوهستان ته د غور چې مستحكم له غرونو وهٔ يوړه. زور او استطاعت ئې ونيو او پخوا تر هغه ملک د غور آباداني نهٔ وه. اما په گردونواح ئې قبيلې د بني اسرائيلو او د افغانانو اوغيره آباداني وے فريدون سلم او تور چې زهمن د دهٔ وو له ډيره لښكره ئې په سر د دهٔ تعين كړهٔ. اما كار ئې پيش لاړ نهٔ شهٔ. نااميده

وجاروتل اولاد د ضحاک په جمع خاطر هورته ساعت تیروهٔ. هرگاه چې لښکر د حجاج غور محاصره کړ پس له ډیره جنگه صلح وشوه. کمال الدین محمود ځوی د جلال الدین حسن، و دارالسلطنت ته د ولید واستوهٔ او اکثر خلق د غور متفرقه شهٔ. شاه معزالدین چې پلار د شاه حسین وهٔ په سبب د تفرقې متوجه و بیت الحرام ته شهٔ. شاه حسین ملگیري د پلار ونهٔ کړه تنها پریشان احوال و کلي ته د شیخ بیټن راغی او په ملازمت د شیخ مشرف شهٔ. هرگاه چې نخښې د دولت او د سعادت په وچولي کښې د شاه حسین ښکاره او هویدا وې شیخ بیټن دهٔ ته په قبیله کښې ځائې ورکړ او د پلار غوندې مهرباني او سلوک ئې ورسره کاوهٔ او خود ئې غرض په معامله د دنیا نهٔ کاوهٔ. شب و روز په طاعت په عبادت مشغول وهٔ. ټول تمام کاروبار په اصلاح د شاه حسین قرار ونیو. هرگاه چې اراده د پروردگار د شاه حسین په مقتضا د بشریت او د ځوانۍ او د ډیرې ناداني له بي بي متو چې لور د شیخ بیټ وه محبت او میل پیدا شهٔ. رفته رفته کار هسې ځائې ته [۴۵۶] ورسیدهٔ چې بې د رضا والدین ئې ایجاب و قبول یو د بله وکړ. او لاس ئې د مواصلت یو د بله ونیو ځو پس له ځو ورځو نخښه د وصل ښکاره شوه او کار له حفظه ووت. هرگاه چې مور د بي بي متو له دې واقعې خبر شوه ژبه ئې د ملامت او د سرزنش په خپلې لور پرانته. هرگاه چې سرشته له لاسه وتلې وه له فکره براصل ئې چاره نهٔ لیده. او صورت ئې د واقعې و پلار ته د جلې ووې او وې وئیل چې پخوا تر هغه چې دا راز نژدې لرې خلق ئې واوري مناسب دا دې چې دا لور په نکاح و دې ځوان ته ورکړو شیخ بیټ ووې دا ځوان زمونږ دې کهٔ نهٔ دې او له حقیقته ئې د حسب او د نسب واقف نهٔ یم څهٔ رنگ دا کار اختیار کړم. مور د متو ووې چې بالفعل نخښې په وچولي کښې د حسین ښکاره دي. شیخ بیټن راضي شهٔ. پس له هغه کور د شیخ بیټ د شاه حسین د اصل او د نسل پوښتنه وکړه. دهٔ ووې پلار او نیکهٔ مې په غور کښې اشراف او سرداران دي او کهٔ دې تاسو باور نهٔ شي ځوک باوري واستوئ چې تحقیق د دیو معنو وکړي. هغې نیک اصلې دا خبره پسنده کړه نور ئې په عرض د شیخ بیټ ورسوله شیخ بیټ کاغ دوړے له خطه د شاه حسین و ولایت ته د غور روان کړ چې حقیقت د حسب او د نسب زده کا راشي کاغ غور ته ورغے حقیقت ئې د اصالت او د شرافت د نجابت لکه وهٔ زده کړ. له ځوابه د خط بیرته راغے. شا حسین ته ئې ووې چې اصالت او سرداري مې په تحقیق زده کړه چې اظهر من الشمس ده. ا تهٔ نجیب او شریف ئې اما دا حقیقت به په دا شرط ظاهر کړم چې التماس دې ما هم قبول کړے. د شاه حسین بالکل د مراد گل وغوړیدهٔ له دې زیریه ډیر خوشحال شهٔ او قبول ئ کړهٔ. کاغ دوړ شیخ بیټن له اصالته او له شرافته د شاه حسین واقف کړ خاطر د شیخ في

الـجمله غبار اخستے وۀ مصفا شۀ. پس له هغه لې په ښۀ ساعت نكاح د شاه حسين له بي بي متو سـره وتـاړۀ. او پس له څو ورځو ئي چې لور د كاغ وه هم په نكاح كړه. القصه پس له يوۀ مـدتـه فرزند د بي بي متو تولد شۀ. هر گاه چې دا فرزند ښخوا تر نكاحه په غلا حاصل شوے وۀ نوم ئـې غـلـجے كښيښن. پس له هغه له متو نه سروانے پيدا شۀ. پس له هغه له بي بي متو بل فرزند پيدا شۀ نوم ئې ابراهيم كښيښن. پس له هغه نوم د ابراهيم په لودي شهرت بياموند او دا مـذكـور د لـودي د نـامـې ښخوا تير شوے دے. اوس به بيا په طريق د اجمال وكيښ شي. وائي چې پـاس پـه غـرۀ چـې وطـن شيـخ بيټ نيولے وۀ پرې واوږې باران ډير ووريدۀ هغه ځائے ئې پـريـښن پـس لـه ځـلـورو مياشتو بيا و ځپل ځائے ته ورغے. شيخ بيټ و مور ته د متو ووې چې بسم الله ووايـه لـه زاړۀ نـغـريـه [۴۵۷] اور راوكـاږه او نـغـرے د دري ځلورو مياشتو سوړ وۀ. ارتيـنـې د شيخ بسم الله ووې لاس ئې نغري ته ورووړ سوړ وربنكاره شۀ. پس له هغه شيخ ووې هـلكان وړې دې نغن پوخ كړه و ماته ئې راوړه زۀ به ئې نن قسمت كړم چې وگورم چې دې ما كوم فـرزنـدان طـالـع مـنـد دي. هـرگاه چې اول نغن پوخ شۀ ابراهيم واخست او شيخ ته ئې وروړ. هـغه ساعت شيخ وفرماليل چې ابراهيم لوے دے. نور ئې نوم لودي شۀ. پس له هغه نور فـرزنـدان ورتـه ورغـلـل او عرض ئې وكړ چې مونږ وړې يو نغن راكړه حضرت بيټ وفرمائيل نـغـن ابراهيم يوړ تاسو واړه وروڼه دۀ ته ورشئ حصه به تاسو ته دركا او دعا د خير ئې په باب د لـودي وكـړه. له هغه ورځې بزرگي او سرداري په قبيله كښې د لودي مقرر شوه. حق تعالیٰ په دوي كښې بادشاهان پيدا كړۀ هرگاه چې شاه حسين له دې گروه نه وۀ ځكه اسم د دۀ د نسب پـه دې قبيله كښې ذكر نۀ شۀ. او په اسم ئې د ځپلې والدې شهرت بياموند. دوي ته متي وائي او په قول د بعضو دا گروه دوه پنځوس خيله دے چې په اسم د متي ياديږي. اوس به مذكور د متي د فرزندانو شي. هرگاه چې مشر ځوے د بي بي متو غلجے وۀ اول به بيان د غلجي راشي. چې رعايت د مشر والي راشي. ذكر په بيان د غلجي ولد متي:

حق تـعـالیٰ له غلجي دري فرزندان پيدا كړۀ ابراهيم، توسر/ تولر/توراني، بوسر/پولر ابراهيم چې ځوے د غلجي وۀ دوه زهمن ئې وشول جبجب، سهاک، د جبجب يوولس زهمن وشول سـليـمـان خيـل، عليمل خيل، عمر خيل، خمير خيل، كاري خيل، هروكي خيل، وركي خيل، چنـے، دنيار خيل، نانو خيل، نيازي خيل او د سهاک چې ځوے د ابراهيم وۀ دوه زهمن وشول بـوجـي خيـل او اسـمـاعيل خيل. ذكر په بيان د اولاد د لودي د متي. حق تعالیٰ لودیؐ ته دري زهـمـن كـرامـت كـړل. نيـازے، سيانے، دوتانے، والي چې دوتانے ئې په ځوي ياد كړے وۀ. له نيـازي دري زهـمـن پيـدا شـول بـاهي، جام، خاكو او د باهي ولد نيازي او د جام ولد نيازي اتۀ

فرزندان پيدا شول. پندار، سنبل، خان خيل، دولت خيل، عيسيٰ خيل، علي خيل، هرهل خيل، جګـي دا دواړه تپـي لـه اولاده د نيازي دي. او د هميم او د نيلـې چې زهمن د نيازي وو پينځهٔ زهـمـن وشـول عيسيٰ، موسيٰ، مهار، اسد، خدر، او له عيسيٰ دوه زهمن په وجود راغلل الا او کـنـدرې. او د الا دوه زهـمـن وشـول. سيود، سهرنګ او له سيود دوه زهمن پيدا شول جام، سـوري. او لـه جام هم دوه زهمن وشول نيکو، مچن. ذکر په بيان د سياني ولد لودي. د سياني دوه زهـمـن وشـول اسماعيل. پرنګـې. او د اسماعيل درې زهمن وشول سور، لوحاني، مهپال (١) او د سـور څـلـور زهـمـن وشول يونس، بهکي، سارو، للا او د يونس دوه [۴۵۸] زهمن او يـوه لـور وشول. محمود زي او يٰسين او نوم ئې د لور ترکی وهٔ. او د محمود ولد يونس څلور زهمن وشول. داؤد خيل، دولت خيل، شادي خيل، سراخيل او د داؤد چې څوړے د محمود وهٔ کـونـے، بهرام، مرنے، لورا خيل.او د دولت چې څوړے د محمود وهٔ يو فرزند وشهٔ نوم ئې اتمان کـړ. او د اتـمان دوه ارتينې وې له مشرې ارتينې ئې يو څوړے وشهٔ نوم ئې محمد کبنيبش او له مـحمده چې فرزند د اتمان وهٔ درې فرزندان وشول. بهاؤ الدين، صدر الدين، رکن الدين. او د بهـاؤ الـدين يو څوړے وشهٔ. نوم ئې ابراهيم کړ. او له ابراهيم يو فرزند وهٔ حسن. او له حسنه اتهٔ زهـمـن وشـول. فريد، نظام، سليمان، احمد، مدا علي، بنادي خان (١) او فريد څوړے د حسن بـادشـاه شـهٔ او مـخاطب په شير شاه شهٔ. او د شير شاه لس زهمن وو علاول خان، قطب خان، رشيد خان، کمال خان، سليم خان، رکن خان، نصرت خان، نور خان، قاسم خان (٢) او د نظام چـې څوړے د حسن وهٔ يو څوړے ممريز خان نوميدهٔ او خور د دهٔ په نکاح کبنې د اسلام شاه وه. پـس لـه فوته د اسلام شاه څپل خوريـے ئې مړ کړ بادشاه شهٔ. او مخاطب په عادل شاه شهٔ. خلق عام ورته عدلي وائي. او د لوهاني چې څوړے د اسماعيل وهٔ په اصل ئې نوم نوح وهٔ. دوه ارتينې ئـې وې د يو نوم توری د بلې سيری. د توری پينځهٔ زهمن وشول مما، ميا، تتور، شيخ خيل او هـود. او د مما چې څوړے د توری وهٔ درې زهمن وشول يٰسين خيل، حيدر خيل، يعقوب خيل، ميـا چـې څوړے د توری وهٔ ميان خيل ورته وائي او د دهٔ دوه زهمن وشول دولت خيل او حسن خيل. او د حيدر څلور زهمن وشول ذکو خيل، نورا خيل، ابراهيم خيل، کندړے او د تتور چې څـوړے د تـوری وهٔ تتـور خيـل ورتـه وائـي. شيخ ولد توری هود خيل ولد توری. ذکر په بيا د مهپـال د اولاد چې څوړے د اسماعيل سياني وهٔ. دا رنګ وائي چې ارتينه د مهپال وينی نوميده اولاد د دې واړه پـه نـامـه د مور شهرت موندلے دے. او دوی ته بنئ وائي. دا رنګ چې څوړے ئـې بـرنـګـي وهٔ درې زهـمـن وشـول مـايان، مليخ، خيصور. ذکر په بيان د پرنګي د اولاد چې څوړے د سياني وهٔ اووهٔ فرزندان ئې وشول. عمر، ريدے، اندر، آرند، رايدي، زيتون، ترغندے،

او بعضې وائي د پرنګي اوۀ زهمن وو او نوم ئې د مشر خوي ابراهيم وۀ. او د ابراهيم يو خوے وشۀ. اسحاق ئې نوم کښېښو. او له اسحاقه دوه زهمن وشول خواجه او کسرک. او د خواجه يو فرزند وشۀ عمر نوميدۀ. او له عمرْه دوه زهمن وشول ملک شاهو، ملک يوسف او د عمر ولد پرنګي دوه زهمن وشول.[۴۵۹] يٰسين او احمد. او يٰسين ته چې خوے د ملک شاهو وۀ يٰسين خيل والي. او د ملک يوسف دوه ارتينې وے يوه له قبيلې د جام وه او بله لور د کاکړ وه. اسو نوميده. له لوره د جام خوے د نيازي درې زهمن وشول. خيرو، انجا، مانا او اولاد د مانا پينځۀ تپې دي چې په بجواړه کښې متوطن دي. او نواب خان جهان له نسله د دوي دے او اولاد د انجا شيخ محمد او عالم خان چې په روپړ کښې ساکن دي او. د احمد چې خوے د ملک شاهو وۀ درې زهمن وشول ملک محمود، ملک بهرام، ملک موجے. اولاد د ملک محمود قصبه کښې د بلوټ ساکن دے. او دوي ته محمود خيل وائي. او د ملک بهرام دوه زهمن وشول الا او کالا، اولاد د تاجي او د چرکم دي. الا د ملک بهرام بې ولد پاتو شۀ. او د کالا دوه زهمن وشول محمود او بهلول. او بهلول سلطان شۀ. او اولاد وته د ملک يوسف نيازي والي. او له لوره د جام درې زهمن وشول تونسو او بل تاجدين او دريم ملک پهو. د پهو څلور زهمن وشول بهدين، علاؤالدين، سمو، غوري او د ملک سمو هم درې زهمن وشول ميري او نکر دين او فيروز شاه وو. او رستم له مغلانی وۀ. او له لوره د کني دولت لوحاني او اولاد ته د نسو خواجه خضري اوغيره ته نسو خيل وائي. او اولاد ته د تاج الدين تاج خيل وائي. او اولاد ته د ملک نتهو همائي خيل وائي او اولاد ته د غوري غوريه خيل وائي. او اولاد ته د بهدين بهدين خيل وائي. او اولاد ته د علاؤالدين علاؤالدين خيل وائي. او سمو ته سمو خيل وائي. او مير علي ته مير علي خيل وائي. او شاه رستم ته رستم خيل وائي. او نکر دين ته نکر دين خيل وائي. او له اولاده د فيروز دوه زهمن وشول محمد خان، تتار خان، اولاد د محمد خان ته محمد خاني وائي. او اولاد ته د تتار خان تتار خاني وائي. او د سرک چې خوے د پرنګي وۀ دوه فرزلدان وشول يو تور دويم سور. د تور دوه زهمن وشول بوچے، محمود زے. او سور څلور زهمن وشول حسن زے، اسحاق زے، ابوسعيد خيل، سدوزے. او بوچے چې خوے د تور وۀ درې فرزندان ئې وشول. يوسف خيل، بيا خيل، عمرزے او د اسحاق يو خوے وشۀ شيخ زے او د ابو سعيد دوه زهمن وشول زکريا خيل، اسيف خيل. ذکر په بيان د اولاد د سرواني چې خوے د مستي وۀ. حق تعالیٰ سرواني ته درې فرزندان کرامت کړۀ. سوتے، سربال، بلے، او بلے له يوې موره وۀ. او د سوتي پينځۀ فرزندان وشول. درې اصلي او دوه وصلي وو چې په نامه د فرزندانو ئې لوے کړي وو. اصلي

فـرزندان ئې يو ابو الفرح او ايبک او هوبک او وصلي فرزندان ئې حسن خيل او هديا وو. په ديـو کښې اولاد د ايبک خال خال دے او فرزندانو ته د حسن حسن خيل [۴٦۰] وائي. او له ابـوالـفـرح دري فـرزندان پاتو شول يونس، شهباز، سرمرد. او د يونس دوه زهمن وشول او د يوسف چې خوے د ابوالفرح وۀ دوه فرزندان وشول. اسماعيل او اوچا. او د اسماعيل خلور زهمن وشول تورزے، مجازے، هدو، استوزے او د سام دري زهمن وشول مما، بهدين. هوتے او د بهـديـن خلور زهمن وشول ايسک، احمد، الک، کدا او د شهباز چې خوے د ابوالفرح وۀ يـو خـوے ئـې وشـۀ نـوم ئې خضر وۀ. او د خضر شپږ فرزندان وو خلور اصلي دوه وصلي. اسـوت، سـنـجر، چنازے، زکوزے اصلي وو او وصلي يو رستم او بل تاهر زے. ذکر په بيان د سـرميـر د اولاد. سـرپـال چې خوے د سرواني وۀ دري زهمن وشول جعفر، احمد، سوري، او سـوري چـې خـوے د سرپال وۀ دري زهمن وشول ګکپور، او شهباز او هيبت. د ګکپور شپږ فرزندان وشول. ابراهيم، سيدو، پوپے، الوت، سنکت، ملانا. او د ابراهيم دري زهمن وشول. محمود، هارون، کزوي. او د محمود يو فرزند وشۀ. نوم ئې موسيٰ وۀ. او د موسيٰ دري زهمن اچـو، اکـو، احمد د شيخ احمد عرف ګکپور دري زهمن وشول هدو، ممو، سليمان دانا. او د سـليـمـان دانـا دري فـرزنـدان وشـول او يوه لور. شيخ محمود حاجي، شيخ مهلي قتال، شيخ حسـن ميـرمسـت او نـوم د عـاجـزي بي بي دويه وۀ. او د شيخ ملهي قتال دوه فرزندان وشول شيـخ عـلي شهباز، شيخ بايزيد. او د شيخ علي شهباز يو فرزند وشۀ هغه وته ئې احمد زنده پير وئيـل. او د شيـخ احمد زنده پير خلور زهمن وشول صدر جهان، شاه سکندر، شيخ خواجه ا علي شير. او شرحه به د احوال د صدر جهان په اخر د کتاب وکښل شي.

فصل دريم په بيان د غورغشتي د اولاد : حق تعاليٰ غورغشتي ته دري فرزندان کرامت کړ دانـي، بـابـي، مـنـدو او د دانـي خـلـور زهمن وو کاکړ، ناغړ، داوړے، پڼي او کاکړ ته الله تعالٰ خـليـريشـت فرزندان مرحمت کړۀ په دا جمله کښې اتلس زهمن ئې صلبي وو او شپږ زهم ئې په فرزندی لوے کړي وو. او په قسمت د ميراث او د املاک برابر وو. فرزندان صلبي ئ دا دي. تـغـرق، جـدرام، سيـرا او زلـغـوزے، جرمي، بيدار، کرانو، غني، ترغزے، موسيٰ ز مـاتـے، يـونـس خيل، سالار خيل، سهام خيل، زربي خيل، جلال خيل، مکرانے، انج او شپږ پسـر خـوانـده وو. حسـن، مرسلين، سرګړے، لميز، تارن. او د تغرق چې نمسے د غورغش خـوے د کـاکـړ وۀ خـلـور زهـمـن وشـول يـونـس خيل، سالار خيل، سودن، سنجر او د سن دولـس زهـمـن وو علي خيل، ارتي خيل، برت، کهوي، برم زے، اتمان خيل اودل او د جد چې خوے د کاکړ وۀ دوه زهمن وو ابابکر. حسنے. او د ابابکر يو خوے وۀ الياس نوميدۀ.

د الیاس څلور زهمن پیدا شول. آدم، ستانے، عمر، حسنے او د ابابکر درې فرزندان وشول[۴۶۱] یوسف، پنی، عیسیٰ. او د کیرې چې خوړے د سنجر وۀ څلور زهمن وشول حسین، یاسین، شمس الدین، شمعون لا ولد پاتو شۀ. او د سیرا ولد کاکړ څلور زهمن وو شادي زے، انگوزے، فاطمه زے، اتوزے، او زلقوزي چې خوړے د کاکړ وۀ اتۀ فرزندان تولد شول. شادي خیل، پاچو خیل، ایوب خیل، تاجوزي، منتدي زي، محمد خیل، ممے زے، ستک. ذکر په بیان د تارن چې خوړے د کاکړ وۀ. سید زاده وۀ یو فرزند ئې وشۀ. نوم ئې ابوالخیر وۀ او د ابوالخیر یو خوړے وشۀ نوم ئې خواجه کرمي کښيښي. او د خواجه کرمي پینځۀ زهمن وشول تکاتون، ادین، اسماعیل، تورا، ابراهیم او شجره ډ نسب د سید طاهر چې ملقب په تارن دے دا رنگ ده. تارن د سید ناصر، سید ناصر د علاؤالدین، علاؤالدین د سید قطب الدین، سید قطب الدین د سید داؤد، سید داؤد د سید کبیر، سید کبیر د شمس الدین، شمس الدین د سید احمد، سید احمد د سید علي رضا، علي رضا د سید امام، سید امام د موسیٰ کاظم، سید موسیٰ کاظم د امام جعفر صادق، امام جعفر صادق د امام محمد باقر، امام محمد باقر د زین العابدین، زین العابدین د امام حسین، امام حسینؓ د حضرت عليؓ، حضرت عليؓ د ابي طالب رضي الله تعالیٰ عنهم اجمعین. ذکر په بیان د ناغر د اولاد او ناغر خوړے د داني. او داني خوړے د غورغشتي وۀ. زده کړه چې د ناغر دوه فرزندان وشول. یونس او دمس. او د یونس شپږ فرزندان وشول بلکت، خاضو، مزد، چندرا، سخي، زندک. او د دمس څلور فرزندان وشول بهرند، ترک، سلایخ، عبدالرحمان. ذکر په بیان د داوي د اولاد چې خوړے د داني وۀ. د دۀ درې زهمن وشول موسیٰ، علي، سکندر، بلبل. نقل دے چې داوي چې خوړے د داني وۀ په ژوند د پلار په خرید د اسونو لاړ وۀ. څو ورځې دۀ ته په هغه سفر کښې توقف پیښ شۀ. یوه ارتینه ډیره ښائسته او پاک دامنه له یوۀ خوي چې سید حسن نومیدۀ له ولایت د خجند راغله داوي ئې له راتلو پوښتنه وکړه چې له کومه راغلے ئې؟ او چرته ځے؟ هغې پاکدامنې ووې له خجنده راغلے یم او دا خوي دې ما سید زاده دے. هرگاه چې هورته قحطي پیښه شوه غواړم چې خپل خان و مشرې خور ته چې ملتان کښې ده ورسوم. داوي ورته ووې چې اے ارتینې خاطر جمع لره انشاء الله تا به و خور ته ورسوم. په وخت د مراجعت داوي هغه ښځه و مشرې خور ته چې په ملتان کښې وه ورروسته او هغې ارتینې په صلاح د مشرې خور داوي په ځښتن والي قبول کړ. له هغه ځایه ئې و خپل وطن ته راروانه کړه. او دے هلک چې حسن نومیدۀ او سید زاده وۀ غلا او لونډي آغازه کړه. اخر الامر توبه ئې په اخلاص وکړه او مرید د غوث العالم حضرت زکریا شۀ ډیر [۴۶۲] مدت ئې

پـه خدمت د شيخ تير کړ رياضت ئې په کمال ورساوهٔ. څو حسن صاحب د کشف و کرامات شـهٔ او پـه رخـصـت د پيـر و قـوم تـه د غورغشتي راغے هدايت او ارشاد ئې کاوهٔ. هرګاه چې حسـن خـجـنـدي وهٔ خلقو به هغه قوم ته خوندے وے چې ژبه د عوامو به خوجندي نهٔ ګرزيده خکه ئې شهرت په خوندي بياموند. ذکر په بيان د پني چې خوږے د داني وهٔ. حق تعالیٰ په خپل کرهٔ پني ته اتلس زهمن کرامت کړهٔ موسیٰ، سنکا، سيوت، مرغزانے، آموزے، پدون، سپالے، شـوڼ، عـلـي خيـل، مـندو خيل، مرغستين، دهپال، يوسے، قاسم، کژک، لون، ختاني، جنتي. شـوڼ چـې خوږے د پني وهٔ دوه زهمن ئې وشول اتمان خيل، شدي خيل. او دهپال چې خوږے د پـنـي وهٔ پيـنـځهٔ فرزندان ئې وشول. ميمزے، مردو خيل، عمر خيل، ملهي زے، اباېکر زے، د بالي هم څلور زهمن وو.

ذکر په بيان د کرلاني: او د بعضو قومونو چې داخل په دا سلسله دي. دا رنګ وائي چې دوه تـنـه د اورمـړو صـحـرا ته لاړ وو. په يوهٔ ځائے ورغلل چې هورته لبنکر شپه تيره کړے وه کـړهے ئې د اوسپنې بياموندهٔ. او بل شير خوار هلک. هغه مرد چې کړهے موندلے وهٔ هغه بل تـه ئـې ووې چـې اے وروره تـهٔ پـوهيـږے چې زهٔ فرزند نهٔ لرم. له دې دولته بې بهره يم. کهٔ دا هـلـک و مـاتـه راکـړے دا کـړهے چې ما موندلے دے و تاته به ئې درکړم. څو ورځې به دې تا خـرڅ پـرې تـازه شي. او زهٔ به مرهون دې تا د احسان شم. هغه شخص قبوله کړه. هغه هلک ئې ورکړ او کړهے ئې خود واخست ډير خورم او خوشحال شهٔ. او کور ته راغے د هغه هلک نـوم نـې کـرلانـے کـښيـښ. هرګاه چې په سن د رشد ورسيدهٔ وادهٔ ئې پخپله قبيله کښې وکړ حـق تـعالیٰ ډير اولاد ورته کرامت کړ او په دا قوم کښې ئې عزيز او محترم کړ. ذکر په بيان د کرلاني د اولاد. حق تعالیٰ کرلاني ته دوه زهمن ورکړهٔ کودے او ککے، له کودي اووهٔ زهمن وشـول. مـوسي زے، هوتے، منګلے، دلازاک، وتوزے، وردک، اورکزي، هني او وردک دا دواړه فرزندان د سيد محمود ګيسو دراز دي. او د دلازاک چې خوږے د کودي وهٔ دوه زهمن وشـول مـنـدخيـل، بيـخـي زے وتـکـرے عـمـر خيـل او يعقوب د لودي اووهٔ فرزندان وشول. مـنـدرزے، مستـي زے، خـذرزے، يسين خيـل، مـاني زے. ذکر په بيان د اورکزي د اولاد. د اورک زي پينځهٔ خويه وو دولت زے، لبنکر زے، علي زے، اسماعيل زے، مسوزے. ذکر په بيـان د خـوګيـانـي د اولـس د خـوګيـانـي چـې د کابل په لار کښې توطن لري طائفه د شيرزاد بـارک يسيـن، ابـراهيـم، موني، کدي، ممي، عمرکي د بارک درې زهمن وو. عثمان، ککر، شـادي، لـقـمـان پـه اولاد کښې د شيرزاد ډير دے. د لقمان او د بنادي يو د بله عداوت وشهٔ. لقمان پناه و خضر خيل ته يوړه. جنګونه ئې ډير وشول. بنادي بې قوته شهٔ. پناه ئې و غلجي ته

يوړه. ډير جنګونه ئې وکړل. تر هسې حده چې په يوۀ جنګ کښې تر زرو خوانانو طرفين ومړل.[۴٦٣] فتح د شير زاد او د خضر خيل وشوه. او دا واقعه په اول د شاهجهان د جلوس چې سعيد خان صوبه دار د کابل وۀ شوې وه. هرګاه چې سعيد خان طرفداري د غلجي وکړه شيرزاد او خضر خيل ئې بيتابه کړۀ سرداران ئې د دوي مړۀ کړۀ. دا حقيقت شرح بسط لري مجمل وکيښ شۀ. د خضر پينځۀ خويه وو عمرکے، ترکے، مرغے، کانکه او خواجه. نکهې چې خوږے د عمرکي وۀ سردار دے. طائفه د خربومي دولت خواجه نکرا ابرهيم بلبل يوسفزي دولت خواجه مشر دے. طائفه د وزيرو موتک او سرکي اولاد لري. په نامه د ملک نومړ شي. کرسال او هنګامي او پچير او کوکني او کالي خيل هم داخل په دې قوم دي. ذکر د افريدي د اولس. جانشاه د سلطان، سلطان د مابي، مابے د عثمان خوږے د ابراهيم دے. بعضې وائي چې خوږے د برهان دے. چې وررور د لقمان دے. لقمان مشهور په ختک دے د افريدي دوه زهمن وو يو مابے دويم چلنے. د مابي درې ارتينې وے ترى، فاطمه، زين. د ترى اولاد کم دے او د فاطمه اولاد آدم خيل دي. او د زين درې زهمن وو مير ملي، اولي، اکا، د ميري اولاد کم دے. او د اولي اولاد ډير او د اکا اولاد تر اولي کم او تر ميري زيات دے. سرداري د افريدي د اولي خيلو ده. د اولي دوه ارتينې وے ميمونه او زخه. فيروز او ابابکر او لندي او هرمز اولاد د ميمونې دے. بابکر او هرمز او لندي يو دبله اتفاق وکړ سه پائے ورته ونيل اولاد د فيروز تر دې دريو واړو ورونو زيات دے. په افريدي کښې ملکي د فيروز وه. د فيروز څلور زهمن وو مير احمد، کوکي، کمري، ايمل. مير احمد تر درې واړو ورونو زيات دے. اولاد ته د درې واړو فيروزخيل وائي. مير احمد شپږ تپې دي. ملک دين، قنبر، کرم، محمود خان، خرني، ګل، ملک دين او قنبر په اولاد ډير دے په آدم خيل دوه تپې دي. ختوزے او عائشه خيل. ختوزے درې تپې دے. حسن خيل، ژواک، دکلي، عائشه خيل درې تپې دي کالا خيل، علي خيل، محمدي، خير الدين هم داخل په مهمندي دي او اکا خيل څلور تپې دي کمال، ملا، سلطان، عيسيٰ، کمال زيردست دے. کرړي او معروف او رحيم داد او ميري او کټ او سنځل خيل. دا واړه اولاد د کمال دے. او د زخې اولاد ته چې ارتينه د اولي وه زخه خيل ورته وائي. درې تپې لري اول بوډے دويم نصر الدين دريم شاهان. بوډي په دوي کښې زيات شۀ. اولاد د ځيني/چيني چې خوږے د آفريدي دے کم دے. په بنګښ کښې له بلند خيلو ګډ دي. مور د آدم خيلو سبکه نوميده فرزند په نس د عثمان کره چې مشهور په افريدي دے راغله فرزند ترې تولد شۀ. په وخت د قسمت ملک او مال زهمنو د عثمان و دۀ نۀ ورکړل چې اجنبي دے. عثمان ورته ووې چې په خاطر د دۀ د مور دۀ وته هم څۀ بخره ورکړئ. په

حکم ئې د پلار لېږ څۀ زمکه او مال ئې ورکړ شریک ئې له ځان کړ. داخل په اولاد د افریدي شۀ. او کنه فرزند ئې صلبي نۀ دے. [۴۶۴] فیروز خیل دوه ټپې دي میر احمد، کوکي. کوکي، میتهه خان، ابدال، اسکندر، ایمل، کمري اولاخیل اولاد د میموني دي. او اکا خیل اولاد د زیني دي. دواړه ارتیني د اولي وے. زخه هم ارتینه د اولي وه. (۱) ایضاً ذکر د ورکزي د اولاد. بختیار او اشتراني او هني وردک له اشتراني ولاړ شوي دي. (۲) راوړي ئې دي چې یو خوان وۀ سید زاده وۀ سید اسحاق نومیدۀ له قصبې د اوش (۳) چې توابع د بغداد دے. په سبب د تفرقې د روزګار ئې غربت اختیار کړ. و غرۀ ته د کسي غر (۴) چې وطن د شیراني دے راغے. یو مدت ئې په دې تومن کښې تیر کړ. هرګاه چې له العاله له اقواله ئې نخښې د شرافت او د نجابت ظاهري شوے یو پښتون له قومه د شیراني لور ئې سنجره نومیده ورکړه. (۵) فرزند تري تولد شۀ. نوم ئې ابي سعید کړ. (۶) ابي سعید د اسحاق، اسحاق د جعفر، جعفر د سید نظام، سید نظام د سید عیسیٰ، سید عیسیٰ د محي الدین، محي الدین د سید محمد، سید محمد د سید حافظ، سید حافظ د سید نور، سید نور د سید جمال، سید جمال د سید ابو علي، سید ابو علي، د یادګار علي، یادګار علي د نبنان علي، نبنان علي د زین العابدین، زین العابدین د امیر المؤمنین امام حسینؓ، امام حسینؓ د بي بي فاطمې چې لور د محمد رسول الله ﷺ ده. پس له مدته سید اسحاق په رخصت د دې قوم اراده د اوش چې دوي خپل وطن وۀ وکړه. په لاره چې په وطن د مشواني (۷) ورغے بیمار شۀ. ځان ئې وسپارۀ. مور د ابي سعید له ابي سعیده بیا وطن ته د شیراني راغله. هرګاه چې ابي سعید هلک وۀ پرورش ئې د دۀ کاوۀ. له تنګدستی ئې اوقات په سختئ تر سره وړۀ. یو مرد له قومه د شیراني چې هغه میانے وۀ نیک زنه ئې په نکاح کړه. لیکن مفلس وۀ حق تعالیٰ په برکت د سنجرې او د ابي سعید ډیر دولت ورکړ. په دا سبب میانې ابي سعید ته بختاور ونیل رفته رفته شهرت ئې په بختیار بیاموند. پس له یوۀ مدته د میاني له سنجرې نه بل فرزند پیدا شۀ هرګاه چې دواړه ورونه په حد د بلاغت ورسیدل میانې وغوښتل چې اول خپل فرزند حقیقي ته وادۀ وکا ارتیني ورته وونیل چې دې تا دولت په یمن د بختیار دے اول دے کدخدا کړه پس له هغه خپل فرزند وادۀ کړه چې خوږے دې تا کشر او بختیار مشر دے. چې خلق ئې په سپک نظر نۀ ګوري. هغه مرد قبوله نۀ کړه. سنجره له ښښتنه آزرده شوه. حمیم شیراني ته چې سردار د هغه قوم وۀ ورغله او حقیقت ئې بیان کړ. حمیم میانے وبالۀ شرافت او نجابت او سیادت او حرمت ئې د سیدانو ورته ظاهر کړ مال او اموال ئې برابر په دواړو فرزندانو قسمت او اول وادۀ ئې د بختیار وکړ او د بختیار پینځۀ زهمن وشول اتو، اکو، کرتے، پیرے، تورے، غاو،

عطا الله. ليکن په قبيله کښې د شيراني شهرت ئې په اتو بيامونډ. له اتو سيد محمد پيدا شۀ او له سيد محمده خواجه الياس او له خواجه الياسه حضرت يحيىٰ کبير پيدا شۀ. اولاد ته د يحيي کبير [۴۶۵] شيخ زي وائي. دوي په اصل ځان ته سيدان وائي. او هر کاه چې دوي په قبيله کښې د مور پرورش بيامونډ شهرت ئې په افغان بيامونډ. زده کړه چې په زمانه د شيراني د حيات يو درويش صاحب د ولايت وۀ چې نوم ئې سيد محمد وۀ او سلسله ئې د نسب دا رنګ پيوسته ده. سيد محمد د سيد غور، سيد غور د سيد عمر، سيد عمر د سيد قائن، سيد قائن د سيد رجال، سيد رجال د سيد اسماعيل، سيد اسماعيل د سيد امام جعفر صادق، سيد امام جعفر د سيد امام باقر، امام باقر د امام زين العابدين، امام زين العابدين د امام حسينؓ امام حسينؓ د امير المؤمنين حضرت علي کرم الله وجهه. القصه سيد محمد ګيسو دراز و وطن ته د پښتنو راغے په ميان ئې د کرلاني او د کاکړ او د شيراني قرارګاه ونيو. او څو مدت ئې په هغه مقام استقامت وکړ. او خلق د دې درې واړو تومنو په سعادت د دۀ د انفاس مستفيد شول. او هميشه ئې د دۀ د صحبت فيض وړۀ. اتفاقاً خوف او هراس دې قومونو ته مخ بنکاره کړ تر هسې حده چې زر وو چې پائمال د حوادث شوے وے. درې واړو تومنو التجا و مير محمد ته راوړه او استمداد ئې د مدت ترې وغوښت چې بلا دفع شي. سيد محمد په حق د دوي دعا وکړه په توجه د دۀ د دعا له حوادثو په امان کښې پاتو شول. اعتقاد د دې درې واړو تومنو زيات شۀ او مير محمد هيڅ نذر نياز ته التفات نۀ کاوۀ. دوي درې واړو تومنو مصلحت وکړ درې واړو سردارانو يوه يوه جله يوه له کرلاني او يوه له کاکړه او يوه له شيراني په نظر د سيد محمد عرض کړه. مير سيد محمد قبولې کړے درې واړه ئې په نکاح کړے. پس له هغو درې واړو فرزندان پيدا شول. له لور د کاکړه مشواني او له لور د شيراني اشتراني او له لور د کرلاني دوه زهمن وشول. هني، وردګ. څلور واړه طائفې سيدان دي. ليکن شهرت ئې په افغان بيامونډ. ذکر په بيان د اشتراني د اولاد چې خوے د سيد محمد ګيسو دراز وۀ له اشتراني پينځۀ زهمن تولد شول. سخي، تري، مريدي، اميراخيل. ذکر په بيان د مشواني د اولاد چې خوے د سيد محمد ګيسو دراز وۀ له مشواني اتۀ زهمن پيدا شول. تفض، لودين، تکانے، سلهانے، روغانے، کزبونے، غريب، خريار، او رياض او د تفض څلور زهمن وشول کيور، مهمد، بدور، ترک، او د بدور چې خوے د تفض وۀ هم څلور زهمن وشول يوسف، آدم، موسيٰ، سنجر ذکر په بيان د وردګ د اولاد. د وردګ اووۀ زهمن وو مامک، نوزوتے، ميرے، ګدا، تورک، مهيار ذکر د هني د اولاد. د هني پينځۀ زهمن وو دولت، بوغړے، رودن، مچے، دومشت. دا قومونه په قومونو کښې د پښتنو سيدان دي. بختيار او

اشتراني په قوم کښې د شيراني او مشواني او تارن په قوم کښې د کاکړ او هني او د وردک په قوم کښې د کرلاني او خوندي په قوم کښې د داوي او سيد زي په قوم کښې د ترين او خرسين[۴۲۲] په قوم کښې د مياني او کوتې په قوم کښې د بيټني لکه پخوا ئې مذکور تير شوې دې. داخل په قوم د پټهان شول. (۱) او هيڅ وخت ئې خپل ځان ته سيدزاده وئيلي نهٔ دي. او متفق اللفظ وائي چې هرګاه مونږ له فرقې د سيدانو راغلو له قبيلې د افغانانو پيوسته شو او نسبت خويښي او نشست او برخاست چې په دې قوم کښې وشهٔ اوس مونږ خپل ځان ته سيد وايو. دا حساب د مروت نهٔ دې. او مشرانو زمونږ وئيلي دي چې هر څوک زمونږ له اولاده ځان له سيدانو شماري زمونږ له اولاده نهٔ دي. او دا مقدمه په سلطنت د سلطان بهلول او د سلطان سکندر او د شير شاه مذکور شوې وه. بزرګانو د دوي اقرار په انکار بدل کړ. او وائي چې فرملي او خطاني داخل په فرقې د افغان نهٔ دي. او دغه قول صحت مونډلې دې. اما ساکن د موضع فرملي دي. او فرملي نوم د درياب دې چې په حدود د کابل او غزني واقع دې. او څنه چې خپل ځان ته خطاني وائي او وائي چې آباواجداد زمونږ له خطا او له ختنه راغلي دي او خلق د هغه نواحي و دوئي ته افغان وائي. دا خبره غير واقع ده. او خطن چې له اولاده د پښې وهٔ او ځان ته غرغښتي وائي صحيح نهٔ دي. سوا تر ديه هر څوک چې ځان ته پټهان وائي نامسموع ده. په دا چې په سلسله کښې د افغان له وخته د حضرت خالدؓ او قيس عبدالرشيد پټهان ذکر د فرملي او د خطاني راغلې نهٔ دې. او ګفتار د دوي صورت نهٔ نيسي. په دا چې نسب د پښتانهٔ سلسله در سلسله دې. ګنجائش د غير نشته. (۱) والله اعلم بالصواب.

شکر او ثنا دې خاص الله تعالیٰ لره چې دا کتاب چې په نامه د تاريخ مرصع نومړ شي او تصنيف د محمد افضل خان ختک چې ځوې د محمد اشرف خان او نمسې د خوشحال خان ختک دې په دستخط د فقير حقير غلام نبي چې ځوې د منشي غلام محي الدين او ساکن د کاملپور موسيٰ دې. په پاس خاطر او په فرمائش د صاحب اسسټنټ ډسټرکټ سپرنټنډنټ بهادر پوليس د اټک يعني جناب مسټر اشټون صاحب بهادر دام اقباله په ورځ د خالي په څوارلسم د رمضان د مياشتې په وخت د پيشنمي په تاريخ د پينځويشتم د جنوری په سن زر اتصو اووهٔ شپيتهٔ عيسوي چې په کلي کښې د کاملپور موسي (۲) زيور ئې د تمامښت واغوست. په دوستانو دې مبارک وي.(۳) ختم شو.

نوټونه

تاریخ مرصع ته د حوالې په وخت
د صـــ نه مراد د قلمي نسخې صفحه ده لکه چې
د چاپ کتاب په متن کښې لیدهٔ شي.

صـ ۱

۱. ن ب او ن د د "باسمک القدوس الخ"

۲. مط ن ب. ن ا او ن ج " او د رياست او رياست الخ"

۳. دې پسې ن د د فارسي دا شعرونه هم لري:

چنین است رسم سرائے فریب　　گہے بر فراز و گہے بر نشیب

چنین بود تا بود گردان سپہر　　گہے جنگ قہراست وگہ نوش مہر☆ یا نیش قہر

یکے　چرخ بلند　　ہمو را کند خوار و　و نژند

جہان　بلندی　پستی توئی　　نہ دانم چہ ای ہر چہ ہستی توئی

یکے　بہ　ہچو قارون کنی　　دگر را بہ تانے جگر خون کنی

یکے　بر آری و شاہی دہی　　دگر　بہ دریا . ماہی دہی

یکے　بدادی دگر را بدہ　　میان　دوازدہ　کینہ　منہ

نہ با اوست مہر و نہ با اہنت کین　　کہ بہ دان توئی اے جہان آفرین

صـ ۲

۱. مط ن ب. ن ا "بادشاه"

۲. مط ن ب. ن ا " د بنو کړه دے"

۳. مط ن ب. ن ا آثار د زوال د دولت ئې ظلم دے:

چنین گفت نوشیروان قباد　　کہ چون شاہ را دل بہ پیچد زداد

کند چرخ منشور را سیاہ　　ستارہ نہ خواہد درا تیر شاہ

ستم نامۂ عزل شاہان بود　　چو خون دل بی گناہان بود

نہ باشد جہان بر کسے پائیدار　　ہمان نام نیکو بود پائیدار/یادگار؟

۴. مط ن ب. ن ا "او کۀ چا ظل الله" الخ. ن ج "او کۀ د چا ظل الله" الخ

شہر وسپاہ را چو شوی نیک خواہ　　نیک تو خواہد ہمہ شہر وسپاہ

۵. مط ن ب. ن ا "د اورتو کا دے الخ"

صـ ۳

. زمونږ يعني د مسلمانانو د ادب په ځنو برخو کښې چې د سکندر ستائنه شوې ده نو وجه ئې دا ده چې ځنو وړاندينو عالمانو حضرت ذوالقرنين او سکندر يو کس ګڼلي دي. سکندر يوناني (مقدوني) چې رومي ورته هم وئيلي شوي دي بې له دې چې يو ډير لوړے فوځي نابغه او فاتح وۀ وچت او ښـۀ انساني صفتونه ئې نۀ لرل. مشرک، ظالم، جابر، فاسق او فاجر وۀ. په

عکس د هغهٔ حضرت ذوالقرنین نهٔ صرف یو لوی فاتح بلکې یو مؤمن، پاکباز او راستباز انسان او عادل او منصف حکمران هم وهٔ. ډیرو مخکښینو او اوسنو عالمانو د سکندر مقدوني او حضرت ذوالقرنین د یو کس ګڼلو مخالفت کړے دے. او د حضرت ذوالقرنین د شخصیت د تعین په باب ئې مختلفې نظریې پیش کړي دي. خو د مولانا ابوالکلام آزاد صاحب مرحوم تحقیق ډیر ویړ او ژور دے. د هغوي په نزد ذوالقرنین د ایران بادشاه خورس یا سائرس وهٔ. (ترجمان القرآن جلد ۲ ص ۳۹۹-۴۳۰) دلته به دا وضاحت ضروري وي چې دغه خورس یا کورش د کمبوچه زوے د کورش نمسے د ټیسپس کروسے او دغه شان دویم خورس او د هخامنشي سلسلې څلورم بادشاه دے. (ګورئ د ډکټر عبدالله رازي "تاریخ مفصل ایران ص ۲۰ او د بائبل ویسټ منسټر ډکشنري سائرس) د خورس یا سائرس د حکومت زمانه د ۵۵۰ ق م نه تر ۵۲۹ ق م ده. یوه بله نظریه دا ده چې ذوالقرنین دارائ اول (دارایوش) یعنې دارا ګشتاسپ وهٔ. (د مولوي محمد علي د قادیانانو د لاهوري څانګې باني انګریزي ترجمه او تفسیر د قرآن شریف نوټونه ۱۵۱۷ او ۱۵۲۱ دویم ایډیشن ۱۹۲۰ء ص ۷۰۳ او ۷۰۶ او څلورم ایډیشن ص ۵۸۸ ــ ۵۹۰ اردو ترجمه او تفسیر موسوم په بیان القرآن دویم جلد نوټونه ۱۹۵۳ء، ۱۹۶۰ء، ۱۹۶۲ء ص ۱۱۹۴-۱۱۹۶) دارا ګشتاسپ یا اول د دویم خورس تربور وهٔ چې د خورس د زوي دویم کمبوچه یا کیمبې سر له مرګه پس بادشاه شو او د بادشاهی زمانه ئې له ۵۲۱ ق م نه تر ۴۸۵ ق م ده. دغسې سکندر مقدوني د حضرت ذوالقرنین (کهٔ خورس وهٔ) د وفات نه ۱۷۳ کاله پس په ۳۵۶ ق م کښې زیږیدلے وهٔ او کهٔ دارائ اول وهٔ نو د هغهٔ له وفاته ۱۲۹ کاله پس. د سکندر مقدوني د حکومت زمانه له ۳۳۶ ق م تر ۳۲۳ ق م ده.

د حضرت ذوالقرنین او سکندر د یو کس ګڼلو نتیجه ده چې د سد سکندري غلطه اصطلاح هم روانه شوې ده څکه چې په قرآن شریف سورهٔ کهف آیات ۹۳-۹۸ کښې راغلي دي چې حضرت ذوالقرنین د یاجوج ماجوج لار بندولو دپاره یو دیوال جوړ کړے وهٔ.

ص ــ ۴

۱. د اولوالامر نه مراد حاکمان او عالمان اخستلے شوي دي. حکم، خلق او امر (عالم مادي او عالم روحاني او حکم او اختیار) د الله جل شانه دي. اطاعت د الله پاک غیر مشروط دے او د رسول ﷺ ئې هم. خو د اولوالامر مشروط او عوام او جمهور ورسره د تنازعې حق لري. په دې صورت کښې به رجوع الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول ﷺ ته وي لکه چې ارشاد الٰهي دے. یـایها الذین امنوا اطیعوا الله و اطیعوا الرسول و اولی الامر منکم فان تنازعتم فی شیٔ فردوه

الی الله والرسول ان کنتم تؤمنون بالله والیوم الاخر ذلك خیر و احسن تاویلا. خالق الله سره مخلوق د تنازعې حق نهٔ لري. او د الله رسول ﷺ سره ځکه نه چې کهٔ هر څو هغه ذات قدسي صفات هم د الله تعالیٰ مخلوق او بنده دے په حیثیت د هغهٔ د رسول هر فکر، قول او فعل ئې براه راست د الله تعالیٰ د امر او نګرانی لاندې او د هغهٔ د هدایت سره سم صادریدونکے دے. دا مقام مخلوق کښې بل چا ته نهٔ دے حاصل او د هغوي په خپلو کښې یو تر بله اختلاف او تنازعه کیدے شي. او فیصله به ئې د الله تعالیٰ کتاب او د رسول ﷺ سنت سره سمه کیږي. حاکم او عالم تر هغه وخته مطاع دے چې د الله او د هغهٔ د رسول ﷺ مطیع وي.

۲. د یزید برخلاف به د حضرت امام حسین علیه السلام د خروج او غزا په باره کښې څهٔ وایو؟ سره د دې چې د اهل بیت علیهم السلام د شروع نه دغه خیال وهٔ چې خلافت او امامت د خاندان نبوي ﷺ حق دے او د جناب سرور کائنات علیه التحیة والسلام د وصال سره سمه حضرت علي کرم الله وجهه دا دعویٰ او وخت په وخت ئې د دې اعاده هم کړې ده خو نهٔ ئې صرف د حضرات صدیق اکبرؓ، فاروق اعظمؓ او عثمان غنيؓ رضي الله تعالیٰ عنهم بیعت کړے بلکې هر قسم ملګرتیا او مرسته ئې هم ورسره کړې وه. او چې حضرت فاروق اعظمؓ بیت المقدس ته تشریف وړهٔ نو نیابت ئې هم جناب مرتضيؓ ته سپارلے او هغوي په خوښه قبول کړے وهٔ. وجه دا وه کهٔ هر څو اهل بیت خپل ځان او نورو حضراتو زیات حقدار ګڼلو. دغه بزرګان ئې د رسول علیه السلام د جانشینی نا اهل (معاذ الله) یا غیر خاندان نهٔ ګڼل. چې مسلمانانو د هغوي په مشری اتفاق وکړو او هغوي کتاب او سنت سره نهٔ صرف خپل عمل سم ساتلے وهٔ بلکې د حق په تبلیغ او اشاعت او د اسلامي نظام په قیام او استحکام کښې سرګرم وو او په دغه لاره کښې ئې خپل ځان له هیڅ قسمه کاره او زیاره او له هیڅ رازه بندنې او ایشاره نهٔ ژغورلو نو اهل بیتؓ ته هیڅ خفګان نهٔ وهٔ. بلکې خوښ او خرم وو. خو د یزید په مقابله کښې حضرت امام حسینؓ صرف دوؤ اویاؤ کسانو سره خروج فرمائي. خپل ځان او مال عن چې تر ناموسه پورې په خطره کښې اچوي. دا ځکه چې لکه حرؓ ته هغوي فرمائیلي وو د جناب سرور کائنات ﷺ ارشاد دے چې چا داسې حکمران ولید چې د خدائے حلال ئې حرام او حرام ئې حلال کړل او هغه پکښې قولاً او فعلاً مداخلت او د هغهٔ مخالفت ئې ونهٔ کړو نو خدائے تعالیٰ به هغه هم هغه حاکم سره حسابوي. کهٔ مونږ د بناغلي مؤلف د ریاست فلسفه ومنو نو په دغسې ارشادات نبوي ﷺ لکه "افضل الجهاد کلمة الحق عن السلطان الجائر" د عمل ځائے چیرې او بیا د مسلمان دپاره زیات وچت مقام دا دے چې د هغهٔ د وینا نه دې کړهٔ هم وزیږیږي.

۳. د واقعي لـه رويه به دغه دري قسمه وي خو نهٔ د جواز له رويه. په اسلام کښې د ميراثي او تـغـليبـي ريـاسـت هيـڅ ځـائے نشته. تقويٰ او صلاحيت نهٔ په ميراث او نهٔ په تغليب تغلب دے بـلـکې د خـدائے په فضل او توفيق او ذاتي اکتساب او کوشش. نو ظاهره ده چې د چا د متقي کيـدو او د ريـاسـت دپـاره د صلاحيت او اهليت فيصله د هغهٔ په دعويٰ او زور يا په ميراث او کهٔ د خلقو په رائۍ پکار ده؟

صـــ ۷

. دغه فيصله چې د خلقو حال بهتر او کهٔ ابتر شو، حاکم عادل دے کهٔ ظالم څوک او څنګه بـه ئې کوي؟ د خانقاه په ګټې کښې او د نفري په غاړه غاړه افراد او کهٔ عوام او جمعيت په ښکاره. چـې څـوک پـه زور واک او اختيـار ونيسي او حکم چلوي آيا هغه او بريخ به ئې جمهور لره دغه حق ور کړي؟.

صـــ ۸

۱ "عالمګير قابل پيدا شهٔ" مط ن ب ـ ن ا ئې نهٔ لري.

۲. درې يعنې درې سوه شپيتهٔ برخې.

صـــ ۹

. چـې بې بنياده دے. د انبياؤ او د هغوي د اهل بيت عليهم السلام په باب هر وئيلي اوريدلي نهٔ دي تيرول پکار.

۲. ن ب "وزير دوست وي".

صـــ ۱۰

۱. مـامـون الـرشيـد. د عبـاسـي کهالهٔ وهٔ لوے او مشهور فرمانروا چې د هارون الرشيد، دويم زوے وهٔ او د حکومت زمانه ئې له ۱۹۸ هجري (۸۱۴ء) تر ۲۱۸ هجري (۸۳۳ ء) وه.

۲. لـکـه چـې ښـاغـلے مؤلف په راتلونکو کرښو کښې وائي د خان جهان لودي او د ځنو نورو پـښتـنـو امـراؤ حـالات هم په دې کتاب کښې راغلي دي. ځهٔ چې د هغو په باب ښاغلي مؤلف ليـکـلـي دي علاوه له هغه ځنې نور ضروري معلومات به هم ګران لوستونکي په متعلقه ځايونو په نوټونو کښې بيامومي.

۳. مـط ن ب ـــ ن ا "له غايته خان جهان" لغايت (تر، پورې) هم موزون لفظ نهٔ دے ځکه چې د کـومو پښتنو اميرانو حالات ښاغلي مؤلف ليکلي دي په هغو کښې ځنې د خان جهان لودي له مرګه پس تر ډيرې مودې ژوندي وو.

صــ ۱۱

دلتـه د تـاريـخ مرصع د مؤلف (او تاريخ خان جهاني يا مخزن افغاني مترجم) ديباچه ختمه شـي او د تاريخ خان جهاني يا مخزن افغاني مضمون شروع شي. د نفس مضمون نه وړومبے په اصل كتاب كښې د مؤلف خواجه نعمت الله هروي ديباچه ده چې په حمد، نعت او مناقب او د كتاب د تاليف او تصنيف د سبب په بيان مشتمله ده. د كتاب د تاليف او تصنيف د سبب په لړ كښې خواجه نعمت الله وائي:

چون کمترین مصدی تالیف وتحریر این صحیفه اضعف عباد الله خواجه نعمت الله بن خواجه حبیب الله الهروی در سنه ۱۰۱۸ هجری ثمان عشر والف به خدمت و ملازمت نواب کامیاب مستطاب معلی القاب خان جهان لودی که بندگان حضرت خلائق پناه ظل الله ابوالمظفر جهانگیر بادشاه غازی ایشان را به خطاب فرزندی معزز ومکرم ساخته‌اند۔ ممتاز و مفتخر بود۔۔۔ میان هیبت خان کاکر بن سلیم خان کاکر ساکن سامانه را که یکے از جمله ملازمان بودند درین سفر خیر اثر به این کمترین نسبت اتحاد اخلاص صوری ومعنوی بهم رسید۔ به موجب سعی وکوشش موصی الیه خواست که احوال خیر مآل این طائفه۔۔۔ مرقوم قلم خجسته رقم گرداند بناء علیه بتاریخ بستم ماه ذوالحجه الحرام سنه ۱۰۲۰ هجری عشرین والف من الهجرة النبویه روز جمعه۔۔۔ بتسوید جرائد احوال وانساب این طبقه کرام اقدام نمود۔ (ن ح ص ۶۰۵)

يعنـي چې پـه ۱۰۱۸ هـجري د دې كتاب راټولونكے او ليكونكے خواجه نعمت الله زوے د خـواجه حبيب الله د هرات د نواب خان جهان لودي چې د جهانګير بادشاه له لوريه د فرزندی پـه خطاب عزتمند وۀ په خدمت او ملازمت كښې وۀ او د ساماڼې وسيدونكے ميان هيبت خان كاكړ د سليم خان كاكړ زوے هم په دې كار كښې له ملګرو څخه وۀ نو په هغه دوران كښې د هيبـت خـان كـاكـړ په مرسته او مينود د دې كتاب د جوړولو كار ئې د جمعې په ورځ په شلم تاريخ د ذوالحجې ۱۰۲۰ هجري شروع كړ.

زمـونږ د وړاندې د پښتو اكيډمۍ قلمي نسخه (ن ز) كښې ديباچه د كتاب د تاليف او تصنيف د سبب د ميان برخه نۀ لري. البته د كتاب په وروستو پاڼو كښې د هيبت خان كاكړ د شجرې او احوال (چې هغۀ په خپله ليكلي دي) نه وړومبے خواجه نعمت الله ليكي:

الحمد لله تبارک وتعالی که به یمن توفیقات وعنایات ربانی والتفات یزدانی وقائد همت به انجام رسید و به اختتام انجامید تاریخ مخزن افغانی، امید که حق سبحانه وتعالی حسن جزاے اعمال این کمترین مصدی جمع این تالیف سید نعمت الله شاه بن سید حبیب الله شاه وباعث تحریر این تاریخ هیبت خان کاکڑ در نامهٔ اعمال ثابت گرداند وخاتمت این نیازمندان را به خیر و بعـــص برحمته من یشاء مختوم سازد۔ الخ۔

يـعنـې د خـدائـے تعالىٰ شكر دے چې د هغۀ د توفيق او مهرباني په بركت تاريخ مخزن افغاني پـوره شـو اميـد دے چې حق تـعـالىٰ په مؤلف او د دې ليک باعث هيبت خان كاكړ په خپل

رحمت ونمانځي. الخ. او د کتاب د بشپړېدو ورځ، تاریخ، میاشت او کال په دې قطعه کښې ښيي:

هزار شکر خدا را که یافت این تاریخ — زیمن عاطفت و التفات او انجام
جمعه دهم ماه ذی حجه — هزار و بست و یک از هجرت رسول امام
زمان سلطنت شهر یار جم مقدار — خدیو جملهٔ آفاق و بادشاه کرام
جهان پناه جهانگیر خسرو عادل — برسته خلق بدورش ز محنت ایام

(ن ز ورق ۲۹۲-۲۹۳)

یعنې په ۱۰۲۱ هجري د جمعې په ورځ د ذوالحجې په لسم تاریخ (د لوی اختر په ورځ) کتاب ختم شۀ.

۲. د پښتو په دواړو مکملو نسخو (ن ا) او (ن ب) کښې (چې دا وخت زمونږ د وړاندې دي) هم دغه لفظ دے چې موزون نۀ دے. د فارسي نسخو (ز ح او ط) په عبارت کښې دا لفظ نشته او عبارت داسې دے. "چون حکمت الهی مقتضی بود که خلقت عالم انسانی را از نطفهٔ ابوالبشر بظهور آورد و این معنی در جنت ممکن نه بود ابلیس را برآدم گماشت" الخ ن. ز "بظهور آورد" ن ح "بظهور آرد" په ترتیب ورق ۳ او ص ۱۰ دلته دا خیال هم ضروري دے چې الله تعالیٰ د ابلیس په سوال هغۀ ته د آدمؑ او حواؑ د خطا کولو او د بني آدم د غلولو او بې لارې کولو د کوشش رخصت او ورسره انسان له ئې د مدافعت سامان (د انبیاء علیهم السلام په ذریعه د وحي هدایت) او طاقت او استعداد ور کولو او پخپله د چا د خطا کولو په هغۀ د ابلیس گمارلو کښې ډېر فرق دے نو عبارت له دې کبله هم قابل اعتراض دے. دا عبارت الله عالم دے چې له کومه ځایه اخستلے شوے دے. په (ن ا) کښې هم دغسې لیکلے او (ن ب) کښې پرېښودلے شوے دے. (ن ج) "فاخرجوا منها" الخ په (ن ز) کښې بې له اعرابو "فاخرج منها زوجها" او په (ن ح) کښې "فاخرج منها و زوجها" دے. درې واړه رنګه ئې ژبه صحیح نۀ ده. "اخرج" کۀ هر رنګه ولوستلے شي په عبارت کښې قسماقسم غلطي رادوځاريږي.

د تاریخ خان جهاني (ن ح) فاضل مصحح منقح او محشي سید امام الدین صاحب په نظر د وړاندې عبارت دا حاشیه لیکلې ده:

"این جا مصنف تسامح کرده است به معني اهبطا منها (سورهٔ ۲۰ طٰهٰ آیة ۱۲۲ نوشته" ص ۱۰ دا مضمون قرآن شریف کښې ډېر ځایه شان شان راغلے دے لکه چې:

(۱) فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ وَ قُلْنَا اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَ لَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّ مَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ. فَتَلَقّٰى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ

الرَّحِيْمُ. قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعاً فَاِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَایَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ. (سورۂ بقرہ آیات ۳۶ـ۳۸)

(۲) قَالَ اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَ لَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّ مَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ. (سورۂ اعراف آیۃ ۲۴)

(۳) قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيْعاً بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ فَاِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَایَ فَلَا يَضِلُّ وَ لَا يَشْقٰى. (سورۂ طٰہٰ آیۃ ۱۲۳)

لکه چې د بحث لاندې عبارت "فاخرجوا منها الخ" وغيرها نه لږ وړاندې ذکر دے چې ابليس په دواړو آدمؑ او حواؑ د غنمو دانه وخوروله. هغه ونه چې د ميوې له خوراکه ئې دوي منع کړلي شوي وو دا وخت زمونږ په مخکښې په فارسي نسخو (ز) او (ح) کښې نۀ ده نوملے شوے د (ن ز) عبارت داسې دے:

"آدم را بہ خوردن دانہ شجر ممنوعہ فریب دادہ از تنعمات بہشت محروم ساخت۔"

او د ن ح: "آدم را ــــــ فریب دادو از تنعمات الخ"

عام طور سره هم دا مشهوره ده چې آدمؑ او حواؑ د غنمو له بوټي منع کړلي شوي وو لکه چې په ترتيب د خواجه حافظ او علي خان شعرونه دي:

پدرم روضۂ رضوان بہ دو گندم بفروخت	ناخلف باشم اگر من بہ جوے نہ فروشم
پـلار مې د غنـم ميـنې راويستے له جنته	زۀ لا طـمـع دار د غـنـم رنـگـو د وفـا يم

خو چا وئيلي دي چې د انګور ونه وه او چا د اينځر او يا د نارنج ونه ياده کړې ده. خو په قرآن يا خبر صحيح کښې ئې نوم نۀ دے راغلے. په بائبل کښې هم د دغې بوټي يا ونې نوم نشته. البته ورته ئې "په نيک و بد د پوهې ونه" وئيلي دي (پيدائش ۲: ۱۷) او د آدمؑ او حواؑ ئې د ميوې خوراک د ذکر نه پس وائي: "د دواړو سترګې پرانستے شوے او ورته معلومه شوه چې هغوي بربنډ وو او هغوي د اينځر پاڼې سره وګنډلے او ځان له ئې لنګونه جوړ کړل. (پيدائش ۳:۷) تر کومه حده چې د بائبل د پورتنو بيانونو مرسته د قرآن شريف له ارشاداتو کيږي نو اندازه ئې له ديو مبارکو آيتونو کيدے شي:

(۱) فَدَلّٰهُمَا بِغُرُوْرٍ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَ طَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ. الخ (اعراف آیۃ ۲۲)

(۲) فَاَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَ طَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ. الخ (طٰہٰ آیۃ ۱۲۱)

يعنې د شيطان په غلولو دواړو د هغې ونې ميوه وخوړه نو سترونه ئې ورڅرګند شول او په ځېلو ځانونو د جنت د پاڼو په پوري کولو لګيا شول.

په دې باب د بائبل بیان او د قرآن شریف ارشاداتو کښې لوے فرق دا دے چې د بائبل په نزد د ګناه بنیاد ایښودونکے ښځه او هم هغه د انساني ابتلا او د مصیبت ذمه واره ده ځکه چې د بائبل د بیان له رویه مار یا ابلیس هم د حواً په ذریعه خپل مکر او فریب عملي کړے وو. (پیدائش ۳: ۱ تر ۷، ۷ او ۱۱ تر ۱۹) په عکس د دې قرآن کریم د شیطان په فریب کښې آدمؑ او حواً د راتلو ذکر بالعموم یو ځائے کوي او هیچرته ئې حوا زیاته ذمه واره نهٔ د ګرځولې. مثلاً (۱) فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ (۲) فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ (اعراف۷: ۲۰) (۳) فَدَلّٰهُمَا (اعراف ۷: ۲۲)

او اګر کهٔ په سورهٔ اعراف ۲۰ کښې د شیطان خطاب دواړو ته دے (قَالَ مَا نَهٰكُمَا رَبُّكُمَا الخ) او هم په دې آیت کښې د شیطان وسوسه اچول هم دواړو طرف ته بیان شوي دي خو په طٰهٰ ۱۲۰ کښې د شیطان وسوسه اچول او خطاب کول صرف آدمؑ طرف ته بیان شوي دي. "فَوَسْوَسَ اِلَيْهِ الشَّيْطٰنُ قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ الخ" او په آیت ۱۲۱ کښې د عصیان نسبت هم آدمؑ طرف ته شوے دے "وَ عَصٰٓى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى" سره د دې چې خو ځایه د دواړو په حقله ارشاد دے چې هغوي د شیطان په فریب کښې راغلل د هغې ونې میوه ئې وخوړه او نتائج ئې ولیدل. آدمؑ ته په خصوصیت د عصیان د نسبت وجه دا لیدهٔ شي چې د شیطان د مکر او فریب د ناکامولو ذمه واري د قرآن په نزد د خپل حیثیت، مقام او منصب له رویه په آدمؑ زیاته وه. او هر کله چې د خطا کیدلو لویه وجه آدمؑ ته وسوسه وه نو د دې هم په خصوصیت ذکر وشو ګنه وسوسه خو هم لکه چې خو ځایه ارشاد دے دواړو ته شیطان کړې وه. په هر حال په قرآن کښې داسې بیان نشته چې حوا ولګیده آدمؑ یا آدمؑ ولګید حوا ئې خطا کړه.

علاوه له دې د قرآن له رویه الله جل شانهٔ حضرت آدمؑ ته د مهرباني توجه وفرمائیله او چې لکه په سورهٔ بقره ۳۶ - ۳۸ کښې ارشاد دے حضرت آدمؑ له الله تبارک و تعالیٰ ځنې کلمات زده کړهٔ او خپل رب پرې چې ډیر توبه قبلونکے او رحم کرونے دے مهربان شو او ورته ئې وفرمائیل چې له دې ځایه ورځئ خو (سره د دې) هر کله چې زما له لوریه تاسو له هدایت راغے او هر چا چې ئې پیروي وکړه هیڅ ویره به ورسره نهٔ وي او نهٔ به نولیږي. او بیا ورانديې ارشاد دے (۳۹) چې هغه کسان به تل تر تله د اور استوګن وي چې زما نخښې هدایت پیغام نهٔ مني او مخ ترې اړوي. قرآن دغه زمونږ زمکه او پرې د تکلیف او ازمېښت ژوند د هر قسم لوړو اقدارو د حصول شرط ګنې او هم دغه د الله تعالیٰ د احکامو هدایت پیروی په ذریعه د خلافت الٰهي دپاره د صلاحیت او بیا د آخرت د ابدي ژوند نجات او فلاح سبب ګنې. په عکس د دې د بائبل له رویه "خدائے مار ته ووې چې هر کله چې تا دا وکړل نو

په ټولو ځاروو او د میدان په ټولو ځناورو کښې ملعون شوے. ته به په خیټه رغړے او درست عمر به خاوره خورے. او زهٔ ستا او د ښځې او ستا د نسل او د ښځې تر مینځه دښمني اچوم. هغه به ستا سر ټکوي او تهٔ به ئې پونده چیچے او زنانه ته ئې ووې چې زهٔ به ستا په بارداری کښې تکلیف زیاتوم او په درد به زاهوزاد راوړے ځښتن ته به لیواله ئې او هغه به دربانديې حکومت کوي. او آدمؑ ته ئې ووې چې هر کله تا د خپلې ښځې خبره واوریده او له هغې ونې دې وخوړل چې ما درله ترې د نهٔ خوړلو حکم درکړے وهٔ نو زمکه ستا له کبله لعنتي شوه او په تکلیف به ترې ټول عمر خوراک کوے." (سفر تکوین ۳: ۱۴ ـ ۱۷) دا هم هغه آدمؑ دے چې خدائے په خپل صورت پیدا کړے وهٔ نر او ښځه ئې کړل برکت ئې ورکړو او آدمؑ ئې ونومل هغه ورځ چې پیدا کړل شول. (ایضاً ۵: ۱، ۲) ابتدا ئې په برکت او انتها ئې په لعنت. نو هم له دې کبله نصارئ د خدائے سره (معاذ الله) د زوې او د کفارې عقیدې ایجاد کړلے

د دې بحث په سلسله کښې دا وضاحت هم ضروري شو چې هر کله آدمؑ نبي او رسول وهٔ او انبیاء علیهم السلام له ګناهه پاک او معصومان دي نو د آدمؑ عصیان په منزله د قصده د ګناه نهٔ وهٔ بلکې دغه عصیان یا نافرماني د خطا او نسیان په وجه د نافرمانی له ارادې وه لکه چې هم سورهٔ طٰهٰ کښې وړومبے ارشاد کیږي "وَ لَقَدْ عَهِدْنَاۤ اِلٰۤى اٰدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِیَ وَ لَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا. (آیة ۱۱۵)

لکه چې تاسو په دې نوټ کښې د فارسی نسخو له اقتباسه وکتل او راتلونکي پښتو عبارت کښې به هم زر وګورئ د مخزن افغاني یا تاریخ خان جهاني د مؤلف هم لکه د ګڼو وختینو پوهانو دا خیال دے چې د حضرت آدمؑ او بي بي حوا علیهما السلام په غلولو کښې مار او طاؤس هم د شیطان ملګرتیا کړې وه. تر څو چې د قرآن شریف او صحیحو یا معتبرو احادیثو تعلق دے نو د دغې ملګرتیا ذکر پکښې نشته او له دې کبله مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۱ ص ۳۹) د دغه قسم د قصو په تفسیرونو او نورو اسلامي ادبیاتو کښې د نقل کولو غندنه کړې ده. ځکه چې نهٔ صرف د عوامو بلکې د خواصو هم دا پام و فکر ته پریوځي چې دغه اسرائیلیات هم د اسلامي روایاتو برخه ده. نو د دې تنقید او رائ د نظر د وړاندې هغه روایات چې په تاریخ طبري (جلد ۱ اردو ترجمه ص ۸۸ ـ ۹۳) او نورو کتابونو کښې راغلي دي موضوعات او د صحت او اعتبار له پایې پریوتي دي. دلته به دا وضاحت کول ضروري وي چې په کومو خبرو تنقید وشهٔ نو د طبعي او علمي مصالح او نظریات له کبله نهٔ دے. ځکه چې طبعي مصالح او علمي او سائنسي نقطهٔ نظر په ماورائ طبیعت او له مشاهدې بالا مسائلو کښې د مد نظر ساتلو زهٔ قائل نهٔ یم. چې کوم ځائے د

سائنس او فلسفې حدود ختميږي نو هورې د دين او مذهب حدود شروع کيږي. نو ا
تجربې، مشاهدې، تعقل او تفکر کوم ځائې. مقصد صرف دا دے چې په داسې معاملو ا
مسئلو چې د کومې خبرې تائيد د قرآن پاک يا خبر صحيح يا معتبر حديث نه نهٔ کيږي نو منا
ئې نهٔ دي پکار. او کهٔ دغسې خبرې په هغو کتابونو کښې راغلې وي چې تحريف کړلي شوي
نورغوني اسماني کتابونه يا صحيفې وي نو بايد چې نهٔ خو ئې تصديق او نهٔ تکذيب وکړل شي
په شرط د دې چې قرآن يا خبر صحيح سره معٰارض نهٔ وي او کهٔ وي نو انکار ئې لازم دے.

په دې لړ کښې د مار د کردار دپاره په بائبل (زړه عهدنامې) کښې وګورئ سفـ
تکوين (کتاب پيدائش) ۳: ۲ او ۱۳ او ۱۴ او بيا نوې عهدنامه کښې کورنتيان نمبر ۲ ۳:
په دغو ځايونو کښې به د ابليس يا شيطان له ذکره د غلولو نسبت مار ته شوے دے خ
"مکاشفه" (نوې عهدنامه) ۱۲ : ۹ وائي چې "هغه لوے اژدها، هم هغه زوړ مار چې ابليس ا
شيطان بلل شي او ټول جهان بې لارې کوي په زمکه راګزار کړے شهٔ."

د دغو پورتنو او دغسې څنو نورو ځايونو له مقابلې ښکارې چې مار هم ابليس
شيطان ته ونيلے شوي دي. او د بائبل له رويه هغهٔ د آدمؑ او حوا عليهما السلام د غلولو ب
وخت د مار شکل اختيار کړے وهٔ او هغه يا ئې روح وهٔ چې له ماره ئې ننوتے وهٔ او دغه شان ئ
مار د خانه سره ملګرے يا د خپل غرض دپاره ئې استعمال کړے وهٔ. په دې لړ کښې زمونږ
نقطهٔ نظره د غور خبره دا ده چې قرآن شريف (سورهٔ الصٰفٰت آيات ۶۲ - ۶۷) کښې کو
ځائې چې د دوزخيانو د خوراک زقوم ذکر فرمائيلے شوے دے نو هلته دغه شان ارشاد ورس
کيږي " طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رَءُوسُ الشَّيَاطِينِ "يعنې خوشه ئې د شيطانانو د سرونو غوندې ده. هر کا
چې په عربي کښې د لفظ شيطان (چې په اصل له عجمه ؤ کلماتو دے) يوه معنیٰ مار هم د
نو په دې آيت مبارک کښې هم له شياطين مراد هم ماران ګڼلے کيږي. په دې بنا به دا وئ
چې ګوندې غلوونکے او فريبي يعنې يا شيطان هم مار وهٔ په قياس او استدلال کښې د
تجاوز کول وي. څکه چې څو ځايه په قرآن شريف کښې آدم او حوا عليهما السلام سره
شيطان د مکر او فريب ذکر راغلے دے خو يو ځائے هم د هغهٔ د مار کيدلو يا د شکل اختيار و
يا د ملګرتيا حاصلولو ئې ذکر يا اشاره قدرې ورته هم نشته. اوس نو کهٔ په دې آيت کښې
شياطين معنیٰ ماران هم وشي نو زيات نه زيات ترې دغه استنباط کيدے شي چې په عرب
کښې شيطان مار ته هم وائي او په قرآن حکيم کښې يو ځائے په دغه معنیٰ کښې استعما
شوے دے. او ګوندې د سفر تکوين د مخاطبينو په ژبه کښې هم د شيطان يوه معنیٰ مار وه.
دا چې هغې باغي او متمردې او ګمراه کونکے هستئ ته چې د الله تعالیٰ له بارګاهه وشړلے

لعنتي شۀ د انسان د روحاني او اخلاقي ژوند دپاره چې د زهرو لړلو په وجه استعارةً مار وئيلے شوي دي او بيا ئې مستقله نامه شوے وې او تربې نور قياسات او قصې پيدا شوے وي. لکه چې وړومبے عرض وشۀ شيطان په اصل کښې عربي کلمه نۀ ده او په عربي ژبه کښې ئې يو معنیٰ مار ده او په قرآن عظيم کښې هم يو ځائے په دغو معنو کښې راغلې ده خو له دې د معکوس استخراج کولو (يعني چې شيطان مار وۀ) يا د مار شکل ئې اختيار کړے يا شيطان په مار کښې ننوتے وۀ او غيږ ئې کولو وغيره خبرو دپاره څۀ جواز نۀ شي ليدۀ. والله اعلم بالصواب.

د طاؤس د شيطان سره ملگرتيا کولو په باره کښې بائبل کښې هم څۀ نشته خو دغه خبره هم د مسلمانانو په مذهبي لټريچر کښې له نورو اسرائيلياتو راغلې ده.

۴. (الف) سرانديپ. لکه چې په غياث اللغات کښې راغلي دي سيلون (لنکا) ته وائي او پکښې د سرانديپ نومې بنار هم شته. سرانديپ په هندی کښې سنگلديپ بللے شي لنکا په بحر هند کښې د هندوستان سهيل ته ورنزدې مشهوره جزيره ده.

په ن ج کښې په سرانديپ دا حاشيه ده : (تاريخ طبري جلد اول صفحه ۱۲) ''آدم بہ سرانديپ افتاد برسر کوہے کہ نام اوطور بوذ'' زما د ورانديي د تاريخ طبري اصلي يعني کومه عربي نسخه يا فارسي ترجمه (تر څو چې د بحث د لاندي د ځائے تعلق دے) نشته البته د اردو ترجمې الفاظ دا دي: اور بعض کہتے ہیں کہ آدم سرانديپ میں ایک پہاڑ پر جس کا نام بوذ ہے اتارے گئے۔'' يعني ځنې خلق وائي چې آدمؑ په سرانديپ کښې په يوۀ غرۀ چې بوذ نوميږي کوز کړل شول. له دې وړومبے له حضرت علیؓ، حضرت ابن عباسؓ او ابن اسحقؒ څو روايات او اقوال ئې په دې باب راوړي دي چې حضرت آدمؑ په هند کښې کوز کړے شوي وو او په اخره کښې ئې ورسره اتفاق کړے دے.

(جلد ۱ ص ۹۸، ۹۹) په تاريخ طبري کښې د حضرت ابن عباسؓ د روايت له رويه د حضرت آدمؑ د کوزيدو ځائے په هند کښې ''دهنا'' نومې ځائے وۀ. او د ابن اسحق په روايت د اهل تورېت د وينا له رويه حضرت آدمؑ په ورسم نومې غرۀ وادي بهيل ته نزدې د ''دهنج'' او ''مندل'' نومې بنارونو تر مينځه غورزولي شوي وو.

نو دلته به بې ځايه نۀ وي کۀ د مولانا سيد سليمان ندوي صاحب مرحوم تصريحات (عرب و هند کے تعلقات) يعني د عرب او هند تړون ص ۲ رانقل شي. فرمائي چې: ''ابن جرير، ابن ابي حاتم او حاکم د هندوستان هغه زمکه چې حضرت آدمؑ پکښې کوز شوي وو په ''دجنا'' نوم يادوي. نو وئيل کيدے شي چې دا ''دجنا'' د هندی ''دکهنا'' يا ''دکهن'' دے چې هندوستان د سهيلي برخې مشهور نوم دے.''

دکهن (لکه چې ستائيلے مولانا صاحب مرحوم فرمائي) د هندوستان د سهيلي برخې

نوم هم دے او بیا پہ دې برخه کښې د یوې مخصوصې علاقې نوم لکه حیدر آباد دکن (د دکن ریاست) او دکن یا دکهن مطلق سهیل ته هم وائي. بیا مندل (گوندې کارو مندل) او د بهیل (د هندوستان یو ډیر زوړ قام) علاقې او لنکا دا ټول ځایونه او طبقې د هندوستان سهیل ته پرتې دي.

تر څو چې د دغو یعنې پورته یادو شوو روایاتو تعلق دے ستائیلے مولانا صاحب مرحوم ئې د فن حدیث له رویه د ډیرې کمې درجې گڼي. دا اوږد بحث دے ځکه خو به په ډیر اختصار مخکښې راشي دلته دومره عرض به کافي وي چې د هر موضوع د احادیث او روایات د جاج دپاره یو قسم معیار نۀ دے تاکلے شوے.

(ب) جده : د بُحیره قلزم یا احمر په ختیزې غاړې د حجاز مشهوره بندرگاه ده چې مکه معظمه ترې ختیز لور د ۴۵ میلو په فاصله اباده ده. د اوبو په لارې تلونکي حاجیان مکې معظمې ته د حاضریدو دپاره هم دلته کوزیږي.

(ج) نصیبین (نَ صِ یْ بِ یْ ن یا نُ صَ یْ بِ یْ ن) د دجلې او فرات د دو آبې تر مینځه و قطب لویدیز برخه کښې چې کوم ځائے دوآبه په عکس د سهیل ختیزې برخې بنه پراخه ده. د دجلې بنی غاړې ته نزدې او د فرات له کینې غاړې ډیر لرې پروت د عراق یو ډیر زوړ ښار دے چې د یونان سکندر یو مشهور جرنیل سیلیوکس اول، بللے په نکاتور یعنې فاتح (۳۱۲ - ۲۸۰ ق م) اباد کړے وۀ. د شام او د دجلې بل خوا ته د ملکونو په مینځ کښې لویه لار هم له دغه ښاره تیریدله. په یوناني او نورو یورپي ژبو کښې به ئې ورته نسبس وئیل. (دحتي تاریخ شام ص ۲۳۷، ۲۵۳)

تاریخ طبري جلد اول (اردو ترجمه ص ۹۹) په میسان او د خنو د وینا له رویه د دریائے ابله په غاړه غوړولے شوے وۀ. (ن ج) حاشیه د "میسان" په ځائے "سمنان".

لکه چې غیاث اللغات کښې وئیلي شوي دي سمنان د دامغان او خوارالرے په مینځ کښې یو ځائے دے. او د خوار د نورو معنو نه علاوه یوه معنیٰ په عراق کښې د یوۀ ځائے نوم دے چې زمکه ئې کلکه او شاړه لیکلې ده. او دامغان ئې په څلورم اقلیم کښې په قهستان او خنو د وینا له رویه په طبرستان کښې یو ځائے ښودلے دے بیا ئې "رے" د عراق عجم یو مقام بللے او ورسره ئې کښلي دي چې د سکندر نامې د خنو شرحو له رویه د جیحون سیند د "رے" او "بخارا" تر مینځه دے.

د عراقین او ایران په نقشه د نظر اچولو نه ښکاریږي چې ایران د مشهور ښار قزوین نه نمرخاتۀ لوریه "الرے" پروت دے. او د "الرے" په قطبي لور د بحر خزر سهیلي ختیز اړخ ته

د طبرستان علاقه ده چې قزوين ئې ختيز لور ته دے د طبرستان لويديز قدرې قطب رويه د جيلان علاقه د بحر خزر په سهيلي غاړه لويديز لوري ده چې قزوين ئې سهيل خاتيز ته دے.

دغه تفصيل د غياث اللغات د بيان د وضاحت دپاره وشو. په نورو او مختصرو الفاظو کښې د بحر خزر په شرقي لوري گرگان، سهيل ته دامغان بيا سهيل څخو لويديز ته ئې سمنان دے چې قطب لويديز ته ئې طهران (د ايران اوسنے دارالحکومت) او نور قطب لويديز ته ئې قزوين دے.

مِيسان يا مَيسان : د عراق د يوې علاقې نوم دے چې يو وخت لوے ښار مذار (د بصرې او واسطې تر مينځه) ئې دارالحکومت وۀ.

اُبُلَه : کوم ځائے چې دجله او فرات په خپل سهيل ختيز رويه تګ کښې يو ځائے کيږي او بيا په خليج فارس کښې د پريوتو نه وړومبے د يو سيند په شکل څۀ مزل هم سهيل ختيز رويه تګ کوي نو دغه سيند پورې د اوبو په ښي غاړه بصره او څۀ وريشته ترې "ابله" پرته ده. د بصرې نه بره يعنې شمال ته د دوآبې دننه مذار د واسطې جنوب ته واقع دے.

(د) اصفهان : د ايران ډير مشهور ښار دے چې د خپلو ښو تورو (تيغ صفاهاني) له کبله هم ډير ياد دے. د صفوي خاندان (۱۵۰۲ - ۱۷۳۶ ء) پينځم حکمران شاه عباس اول چې په لوے شاه عباس مشهور دے په خپل عهد (۱۵۸۶ ــ ۱۶۲۸ ء) کښې د ايران دارالحکومت وګرځولو. د ايران د اوسني دارالحکومت طهران نه سهيل او د سعديؒ او حافظ د ښار شيراز نه قطب ته پروت دے.

مطلب د ليکونکيو او راويانو دا دے چې کوم کوم ځائے اوس دا ښارونه يا علاقې دي په دغو ځايونو وغورزولي شول.

۵. يعني درې سوه کاله.

صـ ۱۲

الايه سورۀ بقر.

قطع نظر له هغو رواياتو چې جوړ شوي، کمزوري يا د باور ناوړ ګڼلي شوي دي داسې روايات هم ډير دي چې کۀ صحت ئې د علم حديث په اصطلاحي معنو کښې محل نظر هم وي معتبر ګڼل شوي دي. او د هغو له رويه د نور محمدي عليه الصلوٰة والسلام له ټولو انبياؤ بلکې له بل هر چا او نور هر څۀ وړومبے د الله جل شانهٗ په امر په وجود کښې راتلل ثابت دي. د دغسې رواياتو د اسنادو د اعتبار په حقله به د هغو علماؤ چې عمرونه ئې د علم دين په مطالعه او د کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ په پيروی کښې تير کړي دي ذوق هم علاوه د

انتقاد له اصولو مد نظر ساتل غوره وي.

مولانا سید سلیمان صاحب ندوي مرحوم د "سیرة النبي ﷺ" په دریم جلد باب "معجزات نبوي ﷺ کے متعلق غیر مستند روایات" یعني "د نبي ﷺ د معجزاتو په باب بې سنده روایتونه" (ص ۷۲۰ ـ ۷۷۲ څلورم باب) کښې مفصل او قطع نظر د اتفاق یا اختلاف له صورته ډیر محققانه او دقیق بحث کړے دے. ستائیلي مولانا صاحب مرحوم د دغسې حدیثونو لکه "اول ما خلق الله نوری" او "یا جابر اول ما خلق الله نور نبیك من نوره" صحت ته د شک په نظر کتلي دي.

ص ۷۳۷ او ۷۳۸ او دغه روایت چې نور نبوت د حضرت آدمؑ نه حضرت شیثؑ او له هغوي درجه په درجه د حضرت سرور کائنات ﷺ والد ماجد حضرت عبدالله ته او له هغوي د سرور کائنات ﷺ امې مکرمې ته وسپارلے شو او په دغسې نورو ډیرو روایاتو ئې بحث او انتقاد کړے دے.

مولانا اشرف علي صاحب تهانوي مرحوم په "نشر الطیب في ذکر الحبیب" ص ۲ او ۷ کښې د حضرت جابر بن عبدالله انصاريؓ روایت ترجمه او نقل کړے دے او په حاشیه کښې ئې الفاظ داسې ورکړي دي "یا جابر ان الله تعالیٰ خلق قبل الانبیاء نور نبیك من نوره" د پوره حدیث حاصل دا دے چې نه لا لوح او قلم، نه جنت او دوزخ او نه اسمان او زمکه، نه نمر سپوږمی او نه پیرے او وګړے وو چې له هر څه اګاهو الله تعالیٰ د خپل نور له فیضه د سرور کائنات ﷺ نور پیدا کړ الخ. ستائیلے حضرت مولانا صاحب مرحوم تصریح فرمائي چې د نور محمدي ﷺ د نور الٰهي نه د پیدا کولو مطلب دا دے چې الله تعالیٰ د خپل نور له فیضه پیدا کړو نهٔ دا چې نور الٰهي ئې ماده وه. د ستائیلي د دغې تصریح او وضاحت په لړ کښې به وئیل مناسب او سودمن وي چې د الله پاک جل شانه د خپل نور نه د خپل حبیب حضرت محمد مصطفیٰ مجتبیٰ علیه الصلوٰة والسلام د نور پیدا کولو دا مطلب هیڅ کله نه شي کیدے چې نور الٰهي چې د هغهٔ ذات یا ذاتي صفاتو سره مختص دے، معاذ الله په نور محمدي ﷺ کښې منتقل یا بدل شو. حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ سره د خپل عظمت او جلالت شان چې له بارګاه الٰهي بل مخلوق ته نهٔ دے بخښلے شوے او نهٔ به وربخښل کیږي د الله تعالیٰ بنده او مخلوق دے او دغسې انتقال یا بدلیدنه د الله جل شانهٔ و تبارک و تعالیٰ د شانه سره سمه نهٔ ده. د هغهٔ ذات او صفات او شان چې سرور کائنات فخر موجودات ﷺ ئې پخپله داسې ستائي چې "راحمي ثناء علیك انت کما اثنیت علیٰ نفسك" له دغه قسمه تحولاتو ډیر وچت دے. الله پاک له خپلو صفاتو انسان ته ډیرې بخښنې کړے دي مثلاً علم،

حکمت، بصیرت، قوت، رافت، رحم او کرم وغیرها. خو بیا هم دغه موهبتونه او عطایا د هغه وهاب او معطي حقیقي د صفاتو په شان نهٔ دي. او صحیح رویه او د ایمان مقام "بین التشبیه والتنزیه" دے. او بیا خصوصاً په انسان کښې دغه صفات لکه د انسان د ذات د الله جل شانه مخلوق دي. د خدائے تعالیٰ د صفاتو فیض پکښې جاري او د هغهٔ له فضله او امره قائم دي. او لکه چې وړومبے هم ووئیل شول دغه مهرباني او عنایات له هر چا زیات په حضرت سرور کائنات محمد مصطفیٰ علیه افضل التحیة والصلوٰة شوي دي. او د الله جل شانه د صفاتو فیوض او برکات له هر چا زیات هم هغوي ته رسیدلي دي خو د هغوي ذات او صفات ستوده هم لکه د بل هر چا او د نور هر څهٔ د الله جل شانه و تبارک و تعالیٰ مخلوق دي. په دې لړ کښې یوه بله توجیه هم د غور وړ ده او هغه دا چې په "من نوره" (له خپله نوره) کښې د نور ذات باري ته نسبت دې دپاره شوے دے چې نور هم مخلوق او مملوک ئې دے او هم ئې د اعزاز او تکریم بنینه بائده وه. نور د الله تعالیٰ په مخلوقاتو کښې معزز او مکرم دے او له هغهٔ نور محمدي ﷺ چې په گرد نور کښې ورته د زمان او شرف له رویه الله تعالیٰ په خپل مخلوق کښې اولیت بخښلے دے معزز ترین او مکرم ترین دے. نو د "من نوره" مثال په "نفخت من روحی" کښې د "من روحی" شو.

د دغه قسمه تشریح او توجیه د نظر د وړاندې په دغه او دغه شان نورو روایتونو کښې (قطع نظر د صحت او عدم صحت له سواله نه) داسې هیڅ خبره نشته چې د اسلام د بنیادي عقائدو له رویه ئې صحت ته د شک په نظر وکتلے شي. په دغه باب مولانا تهانوي صاحب مرحوم نور هم ډیر روایات نقل کړي دي (وګورئ په تسلسل د ص ۶، ۷ او د هغوي خیال د دغه قسم روایاتو د رد او قبول په باره کښې د مولانا شبلي صاحب مرحوم او مولانا سید سلیمان ندوي صاحب مرحوم نه بیل لیدهٔ شي. لکه چې مولانا سید سلیمان ندوي صاحب مرحوم لیکي د علماؤ یوه ډله د هغو احادیثو د انتقاد قائله نهٔ ده کوم چې په فضائل کښې وارد شوي دي خو د بلې ډلې دا موقف دے چې د حدیثونو د صحت، ضعف، اعتبار او اسنادو وغیره جاج اخستلو دپاره چې کوم اصول جوړ کړي شوي دي هغه په ټولو یو شان سـزي دي. په دې لړ کښې مولانا بدر عالم صاحب میرتهي (ثم مدني) مرحوم د ترجمان السنة د څلورم جلد (چې د ستائیلي د وفات نه پس چاپ او خور شوے دے)په مقدمه کښې په ډیر تفصیل، تحقیق او تدقیق بحث کړے دے او د انتقاد حدیث په باره کښې ئې د هر قسم د حدیثونو مثلاً عقائدو او احکامو سره تعلق لرونکي، د فضائل او معجزات په باب او تاریخي او سوانحي دپاره ئې د یو قسم معیار تاکلو مخالفت کړے دے او فرمائیلي ئې دي چې د یوهٔ

حدیث په اصطلاحي معنو کښې عدم صحت ئي د جوړښت یا بې باورتیا د موضوعیت یا غیر معتبر کیدو ثبوت او دلیل نهٔ شي کیدے او کوم سخت نه سخت معیار چې د حدیث ناقدانو د روایت د رد او د قبول دپاره ئې مقرر کړے دے هغه صرف عقائدو او احکامو سره په تعلق لرونکو احادیثو حاوي کول پکار دي. بیا د فضائل او خصوصاً هغو احادیثو کښې چې د حضرت رسول اکرم ﷺ د نبوت او رسالت زیرو (بشارتونو) سره تعلق لري خو به ډیر ځله د صحت وړومبے شرط یعني د ټولو راویانو مسلمانان کیدل هم مفقود وي. په هر حال لکه چې مولانا سید سلیمان ندوي مرحوم هم لیکي چې په دې باره کښې هیڅ اختلاف او د کلا گنجائش نشته چې له صحیحو او مستندو احادیثو هم د جناب رسالت مآب ﷺ له ټولو انبیاؤ وړومبے د الله تبارک و تعالیٰ په امر مخلوق کیدل ثابت دي. په دې باب مولانا بدر عالم صاحب میرټهي مرحوم کوم احادیث راوړي دي له هغو څو دادي: (۱) د حضرت ابوهریرهؓ پ روایت "قال قالوا یا رسول الله متیٰ وجبت لك النبوة قال و آدم بین الروح والجسد" (۲) (حضرت عرباض بن ساریهؓ په روایت "عن النبي ﷺ قال انی عبدالله مکتوب خاتم النبیین (ان آدم لمنجدل فی طینته." (۳) د حضرت قتادهؓ په روایت "کنت اول الناس فی الخلق و اخرهم فی البعث" او (۴) بیا د حضرت ابوهریرهؓ په روایت "کنت اول النبیین فی الخلق و اخرهم فی البعث" په سلسله د تفسیر د آیه کریمه "و اذا اخذنا من النبیین میثاقهم الخ (ترجمان السنة جلد اول ص ۳۷۹-۳۸۶) د دې احادیثو خلاصه او حاصل دا دے چې آدمؑ لا د روح او جسم تر منځه حالت کښې وۀ او په خپله خټه کښې وۀ چې حضرت محمد مصطفیٰ احمد مجتبیٰ ﷺ لره نبوت واجب شوے وۀ. او دوي د الله تعالیٰ په بارگاه کښې خاتم النبیین لیکلي شوي وو له ټول وګړي په شمول د انبیاؤ وړومبے پیدا کړلے شوي او ل ټولو وروستو رالیږلے شوي دي. علیه افضل التحیات والصلوٰة و علي آله و اصحابه اجمعین الیٰ یوم الدین.

په هر حال لکه چې د دې نوټ په شروع کښې ووئیل شول په دې باب ځنې داسې روایات هم شته چې ضعیف او بې بنیاده دي او د قبول په معیار پوره نهٔ دي. او دا د جبرائیلؑ روانو اوبو جو ئے او طباخ وغیره راوړل او د رڼا ذ بي بي حواؑ د سینې په مینځ کښې د نمر هسې ځلیدل هم له دغه قسم بې اساسه روایاتو ځنې خبرې دي.

۳. مط ن ب - ن ا، ن ز "ام الحوا" . ن ح "حوا"

۴. وګورئ د دې صفحې (۱۲) نوټ (۲)

۵. دا ږخت زمونږ د وړاندې دواړه پښتو نسخې (ا او ب) "نهۀ سوه شل" لري خو په دوا

فارسي نسخو ز او ح کښې "نه صد و پنجاه سال" (۹۵۰ کاله) کښلي دي. او د ن ح په حاشيه (جلد ۱ ص ۱۴) کښې د تاريخ طبري جلد اول ص ۳۱ په حواله "شش صد و پنجاه سال (۶۵۰ کاله) ليکلي دي. او په دې ضمن کښې د روضة الصفا جلد ۱ ص ۱۶ دا عبارت نقل شوے دے "چون بروايت مشهور نهصد دوازده سال ازسن مبارکش گذشت روح اوبر کنگره عرش طيران نمود" يعنې د ۹۱۲ کالو په عمر حق ورسيدل لکه چې ظاهره ده د ن ح د فاضل منقح، مصحح او محشي د وړاندې د تاريخ طبري فارسي ترجمه وه زما د وړاندې په اردو ترجمه (ص ۱۳۳) کښې د حضرت شيث عمر د وفات په وخت لکه د روضه الصفا ۹۱۲ او د انوش د زيږيدلو په وخت ۶۰۵ کاله کښلے دے.

۶. له دې خايه شجري چې په افغنه بن ارميا بن طالوت بن قيس (چې د حضرت داؤد عليه السلام معاصر وۀ) او بيا وروستو د دۀ په نمسي قيس بن عيص (چې د اهل انساب په نزد د افغانانو يا پښتنو مورث وۀ د حضرت سرور کائنات ﷺ معاصر وۀ) ختميږي. په دغو شجرو کښې د ډيرو انبياؤ نومونه هم تر حضرت سليمانؑ راغلي دي. د هغوي نه وروستو او د حضرت سرور کائنات ﷺ نه وړومبے تر حضرت عيسیٰ عليه السلام پورې د انبياؤ ذکر پکښې نۀ دے راغلے. چې د هغو د اهل انساب د تاکلے نظريې مطابق د پښتنو تاريخ سره له نسبي نقطۀ نظره براه راست تعلق نشته. دغه شجرې اکثر و بيشتر په بائبل مبني دي. تر څو چې د قيس بن عيص د نسب نامې تعلق دے نو د عيسیٰؑ له وخته وروستو ظاهره ده چې له بائبله لټون نۀ شي کيدلے خو چې تر څو د هغه مبارکؑ له زمانې د وړومبو وختونو تعلق دے نو هم لکه چې په خپل ځائے به ووئيل شي. د پښتنو اهل انسابو او د بائبل په شجرو کښې اختلاف دے. د بائبل شهادت پخپله په دې باب قطعي او ناطق نۀ شي کيدے ولې چې هغه پخپله محرف او دې دپاره غير معتبر دے. د بائبل جدا جدا نسخې دي نۀ صرف هغه له يوه بله مختلفې دي بلکې د يوې نسخې برخې ئې هم سره موافقې نۀ دي.

نسابانو او مؤرخانو چې کومې نسب نامې ورکړې دي (او د حضرت آدم صفي الله نه تر حضرت ابراهيم خليل الله او د هغوي او د حضرت اسحقؑ د شجرو دپاره کلي انحصار ئې هم په بائبل کړے دے) په هغو کښې هم د کړو او عمرونو اختلاف دے. تاسو د دې صفحې په پينځم نوټ کښې وليدل چې د حضرت شيثؑ عمر مبارک د وفات په وخت مختلفو آثارو کښې په اختلاف بيان شوے دے. مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۱ ص ۵۱) د حضرت نوحؑ د شجري تر حضرت آدم عليه السلام په باره کښې چې زۀ ئې په صحت کښې شک او تردد کوم بلکې يقيناً وئيلے کيدے شي چې د جناب نوحؑ او جناب آدمؑ

تر مينځه زياتې کړی دي او بيا (۱۳۵) د حضرت ابراهيمؑ او حضرت نوحؑ تر مينځه د کړو په باب فرمائي. د دې شجره نسب د صحت او عدم صحت معامله د قياسي او تخميني رائ نه زياته نهٔ ده دې دپاره چې سره د دې چې د سرور کائنات ﷺ د مبارک نسب سلسله يقيناً تر حضرت ابراهيم عليه السلام رسي د عدنان نه د پورته کړو په باره کښې پخپله د ذات اقدس ﷺ دا فيصله ده چې "کذب النسابون" د نسب عالمانو د نومونو په تعين کښې غلط بياني کړي دي نو د حضرت ابراهيم عليه السلام نه تر حضرت نوح عليه السلام دا سلسله څنګه د غلط بياني او جوړښت نه پاکه پاتې کيدے شي. د انسابو په باره کښې چې کوم احاديث له طبري، ابن مسيب او وهب بن منبه وارد او مروي دي هغو طرف ته د اشارې نه پس ابن خلدون (جلد اول اردو ترجمه ص ۸، ۹) وائي "په هر حال کهٔ دا احاديث صحيح هم ومنلے شي نو اجمالي اسباب دي. ظاهره ده چې د دغو احاديثو د صحت په باره کښې ياد شوے مؤرخ د شک اظهار کوي.

۷. يعنې له دې عمره (۲۲۰ کالونو) خنې.

۸. ن ز ورق ۵ ايضاً ن ح جلد ۱ ص ۱۵ قيتوس حاشيه ۳ قيوس به حوالهٔ مخزن افغاني.

ص ۱۳

۱. له "نهه سوه پنځوس کاله عمر ئې ورکړ" تر دې ځايه يعنې "په عقد نکاح ئې کړه" عبارت دا وخت زمونږ د وړاندې پښتو نسخو کښې نيمګړے دے. له فارسي نسخو بشپړ کړے شو. د لېندو تر مينځه ځايونه په پښتو نسخو کښې حذف دي له فارسي په پښتو کښې ترجمه شول.

۲. وَ لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا. فَاَخَذَهُمُ الطُّوْفَانُ وَ هُمْ ظٰلِمُوْنَ. فَاَنْجَيْنٰهُ وَ اَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ وَ جَعَلْنٰهَا اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ. هر کله چې دا موده (۹۵۰ کالونه) د نن سبا د طبعي عمر له رويه ډيره زياته ښکارې نو ځنې مفسرين په غير ضروري او تاؤ راتاؤ تاويلاتو کښې پريوتې او نښتي دي. خو دا ضروري نهٔ ده چې د نن نه زرګونه کاله وړاندې دې هم د انسان د طبعي عمر اوسط د موجوده اوسط سره سم وے اګر کهٔ لکه د جناب نوح عليه السلام د زمانې (د تبليغ او ارشاد يا د ژوند) د بل چا نبيؑ او رسولؑ د زمانې صراحت نشته نو مونږ د دغه عمرونو چې په بائبل يا د تواريخ کتابونو کښې بيان شوي دي په باره کښې څهٔ په يقين نهٔ شو وئيلے خو چې څهٔ د پخوانو او اوسنو عمرونو په باب ووئيل شول د نظر د وړاندې د ساتلو به وړ وي.

۳. ن ز ورق ۵ او ن ج جلد ۱ ص ۱۵ "واززن دیگر عمود نام سام که ابوالانبیاست متولد گشت" يعنې "له بلې

ارتينې ئې چې عمود نوميده سام د نبيانو پلار وزيږيد.»

۴. د بائبل (زړه عهدنامه) سفر تکوين يا کتاب پيدائش باب ۵ کښې د حضرت آدمؑ تر دې ځايه شجره چې څنګه سره د هر يوهٔ د مجموعي عمر او د زوي د زيږيدو په وخت د پلار د عمر درج ده مونږ ئې د لاندينی نقشې په شکل کښې ليکو:

حضرت آدمؑ (بائبل آدم Adam)	مجموعي عمر ۹۳۰ کاله
حضرت شيثؑ (د بائبل سيت Seth)	د ولادت په وخت ئې د حضرت آدمؑ عمر ۱۳۰ کاله څپل مجموعي عمر ئې ۹۱۲ کاله.
انوش (د بائبل انوس Enos)	د ولادت په وخت ئې د پلار عمر ۱۰۵ کاله☆ څپل مجموعي عمر ئې ۹۰۵ کاله ☆ قصص القرآن جلد ۱ ص ۵۲. ۱۵۰ کاله ګوندې د کتابت سهوه يا غلطي وي.
قينان (د بائبل قينان Cainan)☆	د ولادت په وخت ئې د پلار عمر ۹۰ کاله څپل مجموعي عمر ئې ۹۱۰ کاله (☆دا کړی د مخزن افغاني يا تاريخ خان جهاني فارسي نسخو او د پښتو ترجمو کښې نشته)
مهلائيل (د بائبل محلل ايل Mahaleleel)	د ولادت په وخت ئې د پلار عمر ۷۰ کاله څپل تول عمر ئې ۸۹۵ کاله،
يرد (د بائبل يارد Jered)	د زيږيدو په وخت ئې د پلار عمر ۶۵ کاله څپل تول عمر ئې ۹۶۲ کاله.
حضرت ادريسؑ (د بائبل حنوک Enoch)☆	د ولادت په وخت ئې د پلار عمر ۱۶۲ کاله څپل عمر ئې ۳۶۵ کاله. له هغه پسه غائب شول ☆ د حضرت ادريسؑ د شخصيت په تعين کښې اختلاف دے په هر حال د يوې ډلې خيال دے چې هم د عبراني خنوخ او د عربي اخنوخ په قرآن عظيم کښې د ادريسؑ په نامه ياد کړے شوے دے)
متوشلخ (د بائبل متوسلخ Methuseleh)	د زيږيدو په وخت ئې د پلار عمر ۱۶۵ کاله څپل تول عمر ئې ۹۶۹ کاله.

لمک (د بائبل لمک Lamech)	د زیږیدو په وخت ئې د پلار عمر ۱۸۷ کاله خپل ټول عمر ئې ۷۷۷ کاله.
حضرت نوحؑ (د بائبل نوح Noah)	د زیږیدو په وخت ئې د پلار عمر ۱۸۲ کاله خپل ټول عمر ئې ۹۵۰ کاله.

سام	حام	یافث
د بائبل شیم یا سیم Shem	د بائبل حام Hom	د بائبل یافت Japheth

" And Noah was five hundred years old; and Noah begat shem, ham, and Japheth."

یعنې "او نوحؑ چې د پینځو سوؤ کالو شو نو ترې سام، حام او یافث وزیږیدل.
وګورئ سفر تکوین یا کتاب پیدائش باب ۱ ـ ۳۲

لکه چې په پورتنی نقشه کښې وښیل شول د حضرت نوح علیه السلام مجموعي عمر د بائبل له رویه ۹۵۰ کاله دے او خواجه نعمت الله هروي د تاریخ خان جهاني یا مخزن افغاني مؤلف لکه چې تاسو ولیدل د قرآن حکیم د آیت مبارک وَ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰی قَوۡمِهٖ (سورهٔ عنکبوت ۱۴) په بنا د آنجناب د تبلیغ او ارشاد زمانه ۹۵۰ کاله یادوي. اګر کهٔ "فلبث" کښې "ف" د زماني ترتیب، تقدیم او تاخیر ارومرو نهٔ مقدر کوي او د اردو "پس" او پښتو "نو" او "او" په معنو کښې هم راتلے شي او صرف د "ف" په وجه (چې د بیا په معنو کښې هم او د نو په معنو کښې هم راتلے شي.) دا نهٔ لازمي کیږي چې په قام کښې وسیدهٔ د رسالت د فرائضو یعنې تبلیغ او ارشاد په لړ کښې بیان شوي دي لکه چې حضرت شاه رفیع الدین صاحب رحمة الله علیه چې د نظر د وړاندې آیت تحت اللفظ ترجمه کړې ده د زماني ترتیب نهٔ ضروري کوي خو دا نتیجه ترې هم نهٔ شي ایستلے کیدے چې یاد شوے عدد د حضرت نوح علیه السلام مجموعي عمر شریف سره تعلق لري. شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحبؒ په خپله ترجمه کښې د "ف" دپاره په ځائے د "پس" (نو) "پهر" (بیا) راوړے دے. او حضرت شیخ الاسلام مولانا شبیر احمد صاحب عثماني رحمة الله علیه چې پرې کومه حاشیه لیکلې ده په هغې کښې فرمائي چې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه نقل دے چې د څلویښتو کالو په عمر حضرت نوحؑ مبعوث شول. ۹۵۰ کاله ئې ارشاد او تبلیغ وکړ. بیا طوفان راغلو او پس له طوفانه ۶۰ کاله ژوندي وو. او مجموعي عمر ئې ۱۰۵۰ کاله وهٔ. د حضرت مولانا اشرف علي صاحب رحمة الله علیه په ترجمه کښې دغه ذوق زیات واضح او ښکاره دے. او بیا ئې پرې علاوه د حضرت ابن عباسؓ له سند د نورو اسنادو په بنا

حاشیه لکه د یادې شوې حاشیې لیکلې ده. حضرت مولانا حفظ الرحمٰن صاحب رحمة الله علیه د زیر بحث زمانې د حضرت نوحؑ تبلیغ او دعوت سره تعلق گڼي (قصص القرآن جلد ۱ ص ۲۸) د حضرت امامیه د حضرت امام باقر صاحب رضي الله عنه د یو قول په بنا هم دغه خیال دے چې په نظر د وړاندې آیت کښې یاده شوې زمانه د حضرت نوح علیه السلام وعظ او دعوت سره تعلق لري. (وگورئ مقبول ترجمه او حاشیه د افتخار بک ډپو لاهور شائع کړے) بیا چې په ټول آیت له" وَ لَقَدْ اَرْسَلْنَا" تر "وَ هُمْ ظٰلِمُوْنَ". او په وړپسې آیت یو ځائے غور وکړو نو گورو چې د نوح علیه السلام په قوم کښې د نهۀ سوه کاله وسیدو ذکر نه پس د طوفان او د هغوي د قوم د ظلم (د شرک او د حق د دعوت نه روگرداني) ذکر (د هغه ظالم قوم د تباهي) او د جناب نوح علیه السلام او په کشتۍ کښې د هغوي د ملگرو د نجات او د کشتۍ د عالمو دپاره د یوې نخښې گرځولو ذکر دے. نو له دې گرده مضمونه هم دغه تاثر ولاړیږي چې د ۹۵۰ د عدد د ذکر تبلیغ او ارشاد سره دے چې ترې د حضرت نوحؑ د قوم د روگرداني نتیجه طوفان او د هغۀ نتیجه د اهل حق نجات او ظالمانو اهل باطل تباهي وه. په دې سلسله کښې دومره نور عرض کول هم ضروري گڼم چې قرآن حکیم بنیادي طور سره دیني، اخلاقي او روحاني کتاب دے او تاریخي واقعات او قصص د فکر، قول او عمل د صلاح او فساد او د هغه د نتائجو سره د تعلق له رویه په غرض د عبرت او بصیرت بیانوي نو د قرآن د بیان به لازماً بنیادي طور سره تعلق هغې مقصد سره وي چې د تکمیل دپاره نې نوح علیه السلام مامور شوي وو نو قیاس ته نزدې او اغلبه خبره هم دا ده چې د عدد تعلق د ارشاد او تبلیغ زمانې سره او د اتمام حجت د ښکاره کولو دپاره وي. والله اعلم بالصواب.

په هر حال د هر چا خپل خپل ذوق دے خو د محرف بائبل د بیان په وجه به په خپل ذوق جبر کول او بدلول نې ډېره زیاتي وي. په راتلونکو بحثونو کښې به نې تاسو د تحریف نمونې وویني.

۵. یعنې د خپل ملت یا قوم له اسلام قبلولو نا امید شول. د فارسي نسخو عبارت داسې دے: "پس چون مہتر نوح از اسلام قوم نومید شد" (ن ز ورق ۵ "نومید" ن ح جلد ۱ ص ۱۶ نا امید)

۶. الایه ۲۷ سورۀ نوحؑ.

۷. دلته دا وخت زمونږ په مخکښې د پښتو نسخو عبارت ناقص دے په لیندو یعنې قوسینو کښې عبارت له فارسي نسخو ترجمه، اضافه او پښتو عبارت پرې بشپړ کړلے شو. فارسي عبارت داسې دے. "ونجات نه یافتند از آب عذاب مگر ہفت تن نوح وسام وحام ویافث وسه زوجه فرزندان از ایشان توالد وتناسل روے داد این ہمه خلائق از اولاد نوحؑ اند". (ن ز ورق ۵ ن ح جلد ۱ ص ۱۶ کښې "از آب عذاب" (په فک

اضـافت) ولوستې شي نو د "از عذاب آب" مترادف او ترجمه به وي. "د اوبو له عذابه" او كۀ پـه اضـافت "از آب عذاب" ئې ولولو نو ترجمه به ئې د "عذاب له اوبو" وي. په مطلب كښې څۀ فرق نۀ راځي.

تـاسـو لـږ اګاهو ولوستل چې د نوح عليه السلام يو بل زوے كنعان هم ياد شوے دے. دلتـه د نـوح عـليه السـلام د كوم زوي په عذاب كښې د ګرفتاريدو او ډوبيدو واضح ذكر خو نشتـه البتـه لـه عـذابـه مـحـفـوظ پاتې كيدونكو كسانو كښې د كنعان ذكر نشته. نو د خواجه نعمت الله په نزد كنعان هم له ډوبيدونكو وۀ. په قرآن كريم كښې د حضرت نوح عليه السلام د زامـنـو نـامـې نشتـه. البته د هغوي د يو زوي د كفر او بدعملي په وجه د نورو كفارو سره په عـذاب كښې د ګيريدو او ډوبيدو واضح ذكر دے. د جناب نوح عليه السلام د هغه زوي نوم چې د خپـلـې نـافرمانۍ او بدو چارو له كبله ډوب او په دنيا او اخرت كښې د الله جل شانه په عـذاب ګرفتار شو مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم كنعان ليكلے دے.(قصص القرآن جلد ۱ ص ۶۵، ۶۷، ۶۹) او ښـاغـلـے جـمـيـل احمد صاحب ئې د يام په نوم يادوي. (انبيائے قرآن جلـد ۱ ص ۱۰۲ ـ ۱۱۵) د تاريخ طبري (اردو ترجمه جلد ۱ ص ۱۵۴) له رويه هم د دۀ نوم يـام وۀ. خـو بيـا وائـي (ص ۱۶۰) چې هم كنعان ته اهل عرب يام وائي. مولانا حفظ الرحمٰن صـاحـب مـرحـوم لـيـكـي چې "ارباب تاریخ نے حضرت نوحؑ کے اس بیٹے کا نام کنعان بتایا ہے یہ توریت کی روایت کے مطابق ہے۔" يـعـني مؤرخينو د حضرت نوحؑ د دې زوي نوم كنعان ښئيلے دے دا د توريت روايت سـره سـمـه (خبـره) ده. پـه وړومبـي نـظـر خو د توريت لكه چې موجود هيئت كښې زمونږ ا وړانـدې دے سره سمه نۀ ده. البته د سمون نوعيت او د حضرت مولانا صاحب مرحوم مطلب به مخكښې واضح شي.

تـر څـو چـې د بائبل د بيان تعلق دے خدائے تعالىٰ جناب نوح عليه السلام ته وفرمائيل چې تـۀ، ستـا زامـن، ستـا ښـځـه او ستا د زامنو ښځې به كشتۍ كښې كښيني. (سفر تكوين كتـاب پيـدائـش باب ۶: ۱۸) او بيا وائي چې "د نوحؑ عمر د شپږو سوؤ كالو شو نو د دويم ميـاشـت پـه اوولسـم تـاريـخ هم هغه ورځ د لوے سمندر ويخونه مات كړے شول او د اسمان تـنـبـۍ پـرانستـې شـوے او څـلويښت ورځې او څلويښت شپې په زمكه باران وۀ. او هم هغه ورځ نـوحؑ، سـام، حـام او يـافـث د نـوحؑ ښځه او د هغۀ د زامنو ښځې هغۀ سره په كشتۍ كښې داخـلـې شوے. (پيدائش ۷: ۱۲، ۱۳) او بيا د شپږ سوه يو كال د وړومبي مياشتې په وړومبۍ ورځې داسې وشـو چـې زمـكـه وچـه شـوه او نوحؑ د كشتۍ چت پرانست او وې ليدل چې زمـكـې مـخ پـه وچيدو دے. او دويمه مياشت هم د هغې مياشتې په اوويشتم تاريخ زمكه وچه

شـوه او خدائے تعاليٰ نوحؑ سره خبره وکړه. وې وئيل له کشتئ بهر ووخه. ته او ستا ښځه، ستا زامن او ستا د زامنو ښځې تا سره... (پيدائش ۸: ۱۳ ـ ۱۹) چې کوم ځايونه حذف شوي دي هغه غيـر انسـان يعني ځناورو سره تړون لري. او بيا د نوحؑ زامن چې له کشتئ وتلي وو سام، حـام او يـافـث وو او حـام د کنعان پلار وۀ. د نوحؑ دغه درې زامن وو. او هم له هغو ټوله زمکه اباده شوه. (پيدائش ۹: ۱۸، ۱۹)

نو اوس له پورتنو بيانونو دا نتيجه راوځي:

(۱) حضرت نوحؑ د شپږو سوؤ کالو وۀ چې طوفان راغے.

(۲) د طوفان جړی څلويښت ورځې څلويښت شپې وه.

(۳) شپږ سوه اولنے کال وۀ چې زمکه وچه شوه او د کشتئ عالم ترې راښهر شو.

(۴) په کشتئ کښې ننوتونکي او ترې راوتونکي يعني له طوفانه بچ کيدونکي انسانان حضرت نوحؑ، د آنجناب ښځه، درې زامن، او درې نګيانديې. ټول سره د آنجناب اتۀ کسان وو.

(۵) تر دغه وخته د حضرت نوحؑ په زامنو کښې د چا اولاد نۀ وۀ يا ئې ذکر نۀ دے شوے.

(۶) ټول موجوده انسانان د حضرت نوحؑ له نسله دي.

اوس راځئ چې وګورو چې بائبل د طوفان د راتلو سبب (له مادي اسبابو علاوه) څۀ ښيي: "او خـدائـے وليـدل چې په زمکه د انسان بدي ډيره زياته شوه او د هغۀ د زړۀ تصور او خيـال ورځ په ورځ بديږې هم بدليږې. نو خدائے په زمکه د انسان له پيدا کولو پښيمانه او ډير دلګيره شو. او خـدائـے ووې چې زۀ به انسان چې ما پيدا کړے دے د زمکې له مخه ورک کړم. انسـان ځناور، چينجي، تاروکي عن د اسمان تر مارغانو پورې ځکه چې زۀ د هغوي له جوړولو پښيمانيږم خو په نوحؑ خدائے د مهرباني نظر وکړو. (پيدائش ۶: ۵ ـ ۸)

او په نوحؑ خدائے ولې د مهرباني نظر وکړو بائبل وائي:

"د نـوحؑ تـولـد نـامـه دا ده نوحؑ په خپلو اقرانو کښې صادق او کامل وۀ او نوحؑ خدائے سره يـون کـاوۀ. او لـه هـغـۀ درې زامـن سـام، حام، او يافث پيدا شول. خو زمکه د خدائے په مـخـکښې ورانه وه او زمکه له ظلمه ډکه وه او خدائے په زمکه نظر وکړ او وې ليدل چې هـغـه ورانه شوه ولې چې هر يوۀ بشر په زمکه خپل يون روان کړے وۀ. (پيدائش ۶: ۹ ـ ۱۲) او

"خـدائـے نـوحؑ تـه ووې تۀ سره د خپله ټوله خاندانه کشتئ وته راځه ځکه ما هم تۀ په

خپل حضور په دې زمانه صادق وليدے. (پيدائش ۷: ۱)

د خط کشيده الفاظو په ترتيب انگريزي او اردو دا ده:

" And it repented the Lord that he had made man on the earth, and grieved him at heart."

يعنې "دې خبرې خدائے پښيمانه کړو چې هغهٔ الخ"

For it repenteth me that I have made them.

يعنې "ځکه چې دا (خبره) مې پښيمانوي الخ."

اردو:

"تب خداوند زمین پر انسان کے پیدا کرنے سے پچھتایا اور نہایت دلگیر ہوا۔"

يعنې ".... پښيمانه او ډير دلگيره شو.

او "کیونکہ میں ان کے بنانے سے پچھتاتا ہوں۔"

يعنې "....... پښيمانيږم يا پښيمانه يم."

او د طوفان نه پس څۀ وشو؟ د اهل سفينه د سفينې (کشتى) نه راوتلو ذکر کولو نه پس بائبل وائي: "او نوحٌ د خدائے رضا لره يوه مذبحه جوړه کړه الخ" (پيدائش ۸: ۲۰) د انگريزی د "unto"(ورتـه)، ورلره) او د اردو "کے لئے" (لره، دپاره) ترجمه ما رضا لره کړې ده. او د جملې ابتدا کښې "او" ما د انگريزی "and" ترجمه کړې ده. اردو کښې "تب" (هالهٔ، هغه وخت) دے.

"او نوحٌ په کښت و کار لگيا شو او هغهٔ د انگورو يو باغ ولگولو او د هغهٔ د شرابو په څښو نشه شو. او په خپله خيمه کښې ئې ځان بربنډ کړ. او د کنعان پلار حام خپل پلار بربنډ وليد او خپل دوه ورونه ئې چې بهر وو خبر کړل. او سام او يافث يوه کپړه واخسته او په خپلو اوږو ئې واچوله او په شا پښو لاړل او د خپل پلار بربنډتيا ئې پټه کړه خو د هغوي شا د هغهٔ طرف ته وه نو هغوي د پلار بربنډتيا ونهٔ ليده. چې نوحٌ (پس) د شرابو له نشې په خود شو نو معلوم ئې کړل چې څۀ ئې مينځني زوي ورسره کړي وو او هغهٔ ووې ملعون دې وي کنعان هغه به د خپلو ورونو د نوکرانو نوکر وي. بيا ئې ووې مبارک د سام رب خدائے او کنعان به هغهٔ نوکر وي. خدائے دې يافث ويړ کړي او هغه دې د سام په خيمو کښې اوسي او کنعان دې د هغهٔ نوکر وي. او نوحٌ د طوفان نه پس تر دريو سوؤ او پنځوسو کالو ژوندے وۀ او د نوح ټولې ورځې نهۀ سوه او پنځوس کلونه وے او هغه ومړ." (پيدائش ۹ ۲۰ - ۲۹)

په برني اقتباس کښې ما د انگريزی Tent ترجمه خيمه (يا تنبو) کړې ده اردو ترجمه

کښې "ډيره" ده دا دومره د فرق خبره نهٔ ده. د انګريزي د Younger son ترجمه ما مينځني زوي و کړه ځکه چې Younger تقابلي comperative حالت ښيي او له بعض فرق کوي. او هر کله چې په بائبل کښې د نوحٌ درې زامن ياد شوي دي او بيا په داسې ترتيب چې حام دويم دے نو هم مينځنے ماته موزونه ترجمه ښکاره شوه. اردو کښې "چھوٹے بیٹے" يا وړوکي زوي يا کشري زوي ترجمه شوي ده.

بائبل دوه حيثيه لري (۱) تاريخ او (۲) د انسانانو د دوؤ برخو يعني يهودو او نصاريٰ ؤ (چې وروستي ډيره لويه ده) د مذهبي کتاب او د هغوي په نزد د رشد او هدايت د مصدر. يهود د نوې عهدنامې قائل نهٔ دي صرف زړه عهدنامه مني او نصاريٰ دواړه. پورتني اقتباسات د زړې عهدنامې له وړومبي کتابه دي نو اوس به ئې د پورتنو اقتباساتو په بنا د دواړو حيثيتونو جاج واخلو. وړومبے په حيثيت د رشد او هدايت د مصدر دې غرض دپاره به لاندينۍ نتيجې د نظر د وړاندې وساتو.

(۱) د حضرت نوحٌ عليه السلام په زمانه کښې زمکه له شره له فساده او له بدو او ګناهه ډکه شوې وه عن چې خدائے تعاليٰ د پيدا کولو (معاذ الله) پښيمانه او دلګيره شو او دے پښيمانۍ او دلګيرتيا نهٔ صرف انسان بلکې ځناورو، چينجو او تارو کو او د اسمان مارغانو ته هم په قهر شوے وهٔ.

(۲) حضرت نوح عليه السلام صادق او د خدائے په لار يون کونکے وهٔ.

(۳) ښځه، زامن او نګيانډې ئې نهٔ ښهٔ او نهٔ بد ياد شوي دي.

(۴) خدائے تعاليٰ خپل مخلوق ته په غضب شو د اوبو عذاب ئې پرې راوست او بې له اتو انسانانو او د هغو ځناورو وغيره هم چې د هغهٔ سره په کشتۍ کښې وو ټول د زمکې له مخه ورک کړل شول.

(۵) موجوده نسل انساني د حضرت نوحٌ له زامنو خور شوے دے.

(۶) نهٔ ده معلومه چې د عذاب راوستلو نه وړومبے خدائے تعاليٰ صرف د نوح عليه السلام د پورې ويستو په فکر وهٔ يا کهٔ نور چا ته ئې هم د نوح عليه السلام يا د بل چا په ذريعه د پورې وتو لار ګودر ښئيلے وهٔ؟ نوح عليه السلام خپل شپږ سوه کاله عمر کښې صرف (معاذالله) د ځان غم وړے وهٔ او صرف ځان له صادق، کامل او د خدائے تعاليٰ په لاره يون کونکے وهٔ کهٔ بل چا ته ئې هم د صدق، کمال او د خدائے لار ښئيلے وه. بائبل په دې باب غلے دے.

(۷) د طوفان د عظيم عذاب نه پس يو خوا خو جناب نوح عليه السلام د خدائے دپاره د قرباني کولو په غرض مذبحه جوړوي او خدائے تعاليٰ ته چې د سوزيدونکو قربانو خوشبوئي

ورسي نو وائي به د انسان په وجه په زمکه لعنت نهٔ لیږم خو جناب نوح علیه السلام (خاکم بدهن و بر سر زبان کلکم) د شرابو په بوئ او خوند مست په خپله ٭بر کښې پریوځي.

(۸) د عذاب ئي په یوهٔ زوي دا اثر کیږي چې ښځپله هم (معاذ الله) د خپل عظیم المرتبت پلار علیه السلام د بربنډتیا تماشه کوي او نورو وروڼو ته ئي هم د سیر بلنه کوي.

(۹) او یا دا بلنه د تماشې نه د امداد دپاره وه.

(۱۰) نو کهٔ د امداد دپاره وه نو بیا هم حضرت نوح علیه السلام دومره په قهر شي چې لعنت پرې لیږي. او کهٔ د تماشې دپاره وه نو له نجات موندونکو په یوهٔ چې د پیغمبر د بائبل په الفاظو کښې د صادق، کامل او د خدائې په لاره د یون کونکي انسان زوے هم وهٔ د عذاب او بخښش عجیبه اثر کیږي.

په حیثیت د یو دیني کتاب او رشد او هدایت د سرچشمې بائبل له دغو مضامینو په خان پخپله انتقاد راولاړوي. ځکه چې دوي د خدائے تعالیٰ د ذات او صفاتو د خپل مخلوق سره د سروکار، د هغهٔ د جزا او سزا د قانون (بغیر د دې بنیني چې خدائے تعالیٰ او د هغهٔ مامور د انسان د هدایت دپاره څهٔ وکړهٔ. بلکې د نوحٌ د هدایت دپاره د ماموریت خیال هلږو د بائبل د مضامینو نه پیدا کیږي نه. او د یو عظیم انسان د یو لوړے هادي او داعي الي الحق د شخصیت یوه ډیره ناقصه او بدرنګه :قشه پیش کوي. اوس به ځنې خبرې له تاریخي نقطهٔ نظره وخیرو.

(۱) اوبهٔ د زمکې له تله ئي په مخ راختلے او له اسمانه پرې وریدلے لکه چې تاسو د اووم باب (۱۱ ــ ۱۳) په اقتباس کښې ولیدل. او هم دغه له اسمانه په زمکه څلویښت ورځې شپې د باران د اوبو وریدو مضمون وړومبے په ۷: ۴ کښې راغلے دے. او هم په ۷: ۱۷ کښې دي چې سیلاب په زمکه څلویښت ورځې وهٔ.

(۲) چې نوحٌ د شپږو سوؤ کالو وهٔ نو د دویمې میاشتې په اوولسم تاریخ شروع شو.

(۳) په شپږ سوه اولنې کال د وړومبي میاشتې په وړومبي تاریخ د زمکې مخ وچ شو او د دویمې میاشتې په اوویشتم تاریخ جناب نوحٌ له کشتئ راووت. (لکه چې تاسو په اقتباس ۷: ۱۱، ۱۲، ۱۳ او اقتباس ۸: ۱۳ ـ ۱۹ کښې ولیدل)

خو هم په دې مضامینو کښې دي چې:

) اوبهٔ په زمکه یو سل پنځوس ورځې وړے (۷: ۲۴) د ۷ : ۱۷ او ۷ : ۲۴ انګریزی سره د پښتو مطلب د خیرلو ده:

1. "And The flood was forty days upon the earth...

"طوفان په زمکه څلویښت ورځې وو. (۷: ۱۷)

2. " And the waters prevailed upon the earth hundred and fifty days. (7:24)

اوبه په زمکه یو نیم سوه ورځې خوري وې. " (۷: ۲۴)

د دې خو به داسې تشریح او تطبیق وشي چې د اوبو له زمکې د بره په مخ ئې د راختو او پرې له اسمانه د وریدو موده څلویښت ورځې (یا ورځې شپې) وه خو اثر ئې تر یو نیم سوؤ ورځو پورې وو. خو تاسو په ۷: ۱۱، ۱۲، ۱۳ کښې ولیدل چې د لوے سمندر ویخونه مات کړل شول او د اسمان تنبرې پرانستلے شوے نو څلویښت ورځې اوبه له کښته راختے او له بره راوریدے نو باید چې دغه ویخونه او تنبرې پس له څلویښتو ورځو ترلي شوي بندې شوې وې خو د ۷: ۲۴ نه پس ولیل کیږي "بیا خدائے نوح او ټول ساه کښې او ټول څاروي چې هغه سره په کشتۍ کښې وو یاد کړل او خدائے په زمکه یو باد والوزولو د سمندر ویخونه او د اسمان تنبرې بندې شوې او له اسمانه اوبه ایسارې شوې." (۸: ۱، ۲)

علاوه له دې تر څو چې د طوفان د اثر د مودې تعلق دے نو د بائبل له بیانه صفا ښکاره ده چې دغه موده هیڅ رنګه یو نیم سو ورځې نه جوړیږي. په دغه لړ کښې د تیرو اقتباسونو دا خبرې د غور قابلې دي چې طوفان د حضرت نوحؑ د عمر مبارک د شپږ سووم کال د دویمې میاشتې په اوولسمه ورځ شروع شوے وو او د شپږ سوه اولنې کال په وړومبی ورځ زمکه وچه شوه. او بیا هم آنجنابؑ د کشتۍ نه د بهر راوتلو دپاره یوه میاشت او اوویشت ورځې نور انتظار فرمائي. او د شپږ سوه اولنې کال د دویمې میاشتې په اوویشتم تاریخ له کشتۍ بهر ته تشریف راوړي. نو د طوفان د شروع کیدو نه د زمکې تر وچیدو پورې ۳۱۳ ورځې (لس میاشتې او دیارلس ورځې) تیریږي. او کۀ د اوبو له بره د راوریدو او له کښته د راختو د بندیدو نه پس د طوفان د اثر د مودې حساب وکړو نو ۱۵۰ – ۳۱۳=۱۶۳ ورځې (پینځۀ میاشتې او لس ورځې) جوړیږي. کۀ ۳۱۳ ورځو نه صرف ۴۰ ورځې وباسو نو ۲۷۳ ورځې (نهۀ میاشتې او درې ورځې) پاتې کیږي او بالفرض کۀ د اوبو د راوریدو او د راختو دواړه بیان شوي میعادونه ۴۰ ورځې او ۱۵۰ سره ګډې ۱۹۰ ورځې واخلو او له ۳۱۳ ورځو ئې وباسو نو ۱۲۳ ورځې (څلور میاشتې او درې ورځې) جوړیږي. او بیا کۀ اثر د جناب نوح علیه السلام د کشتۍ نه د بهر تشریف راوړلو تر ورځې له اوله تر اخره حساب شي نو ۳۷۰ ورځې (یو کال لس ورځې) سازیږي. کۀ ۴۰، ۱۵۰، ۱۹۰ ورځې له ۳۷۰ ورځو نه وباسو په ترتیب ۳۳۰، ۲۲۰، ۱۸۰ ورځې پاتې کیږي.

اګر کهٔ د بائبل له عبارته یا د بیان له اندازه خو واضح نهٔ دے خو ګوندې مطلب دا وي چې تر ۴۰ ورځو له بره او کښته اوبهٔ په ډېر زور او شور د زمکې په مخ راوریدې او راختې او پسته ئې د وریدو او راختو زور کم کړے شو نو تر ۱۵۰ ورځو بیا هم دغه سلسله جاري وه. والله اعلم بالصواب.

لـه دغـه پسـه په بائبل کښې په حام د لګیدلي الزام د اصلي مجرم هم د هغو واقعاتو او بیـانـاتـو له رویه چې به بائبل کښې ئې بیامومو د ټولو مبنود وکړو. کهٔ ورته د منسوبې شوے شوخي او بې ادبۍ مرتکب په حقیقت کښې هم حام وهٔ نو په ځائے د حام په کنعان ولې قهر او غـصـه کیـده او لـعنت پرې لیږلے کیدو. کهٔ دا ووئیل شي چې مراد دا وهٔ چې د حام اولاد دې لـعنتي او ذلیـل شـي نو کهٔ د حام د بدو سزا د هغهٔ اولاد خوار لره ورکیدله نو د هغهٔ خو ځلور زامـن کـوش، مـزرائیـم (مـصـر) فوط او کنعان وو. (پیدائش ۱۰ : ٦) مزرائیم غالباً چې د تشنیع شـکـل او د مـصـر دوۀ بـرخـو کښتـه او بـرې ته اشاره لرونکے دے. (وګورئ د بائبل ویسټ مـنسـټر ډکشنري م پټې ص ۴۰۲) نو کهٔ دا توجیه صحیح وي نو وئیلے شو چې دا سرے نو ئـې کـهٔ هـر ځهٔ وهٔ دې دپاره مصر یا مزرائیم وبللے شو چې غالباً د مصریانو مشر یا نیکهٔ وهٔ. او بیا د ډیرو نومونو په حقله نهٔ شو وئیلے چې شخصي دي کهٔ خانداني. اوس نو کهٔ له ترتیبه مونږ مشـري کشـري متعینه کولے شو نو باید چې کنعان له ټولو کشر وګڼلے شي. او دا هم نهٔ شي وئیـل کیـدے چې د حـام نسل یوازې له کنعانه روان شوے وهٔ ځکه چې د ټولو زامنو ئې اولا یـاد او بیـان شـوے دے او بیـا د ټـولو نه لوے ملعون د حام په اولاد کښې د کوش زوے نمرو ګـرځـي. (۱۰ :۷،۸،۹) علاوه له دې چې په کنعان قهر کیږي او لعنت پرې لیږل شي نو وئیـ کیـږي چې هـغـه دې د خپلو ورونو د نوکرانو نوکر وي. کنعان دې د سام او یافث غلام وي دغه اقتباس په تیرو پاڼو کښې لفظاً هم نقل شوے دے. (۹ :۲۵،۲٦،۲۷) نو دا کسان د سام یـافث ورو ر کهٔ د ورور زوے یعني وراره وهٔ کهٔ له کنعانه مراد د هغهٔ اولاد او د ورونو نه مطلـ د تـرونـو او د ورونـو اولاد واخسـت شـي نـو هـر کـله چې حام مجرم وهٔ نو داسې ولې نهٔ وئیـ کیـدل چـې حام (د هغهٔ د ځلورو زامنو اولاد) دې لعنتي او د ورونو (د سام او یافث د اولاد) نوکرانو نوکر دې وي.

لـکـه چـې مونږ ورانذې وئیلي دي بائبل په یو وخت مذهبي کتاب او تاریخي دستاو دے او کـوم ځـائے چـې مـذهبـي افکار لو شرعي احکام لري نو ورسره تاریخ، د نسب نامو واقعاتو (د زماني په قید او التزام) د بیانونو په معنو کښې هم رابرڅیره کوي او ښیي چې وو چـې پـه دې لړ کښې د تفصیل هم پوره خیال ساتلے شوے دے. مونږ ګورو چې باوجود د د

خصوصیاتو بائبل له پینځم باب (۳۲ او وروستے آیت) تر ۱۰ : ۲۰ چې د حضرت نوح علیه السلام زامن یادوي (چې څو څو ځله په نامو او عدد او بې نامو او بې عدده یاد شوي دي.) نو صرف د حضرت نوحؑ له یوې ښځې. او هیڅ ګمان نهٔ کیږي چې دوي د یوهٔ پلار اولاد صرف له یوې موره نه وو. وګورئ ۵: ۳۲، ۶: ۱۰ چې د حضرت نوحؑ درې زامن په نامو یاد شوي دي. ۷: ۱۳ چې د حضرت نوحؑ ښځه (یوه) درې زامن په نامو او سره د خپلو دریو ښځو یاد شوي دي. ۹ :۱۸ چې د آنجناب درې زامن په نامو یاد شوي دي او دا وضاحت چې د هغوي درې زامن وو چې زمکه پرې اباده شوه. او حام د کنعان پلار وهٔ او هم دغسې ۹: ۲۰ـ۲۷ چې کوم ځائے په هغه ذات قدسي صفات علیه السلام د شراب خواری او په نشه کښې ئې بې خوده د بربنډ پریوتو بهتان لګولے شوے دے. (العیاذ بالله) ۱۰ : ۱ چې درې واړه په نامو یاد شوي دي. ۶ : ۱۸ چې د آنجناب زامن بې نامو بې عدده (خو د جمع په صیغه کښې) د هغو زامنو ښځې (د جمع په صیغه کښې) او د آنجناب ښځه (یوه) یاده شوې ده. و علیٰ هٰذا القیاس. ۷: ۷، ۸: ۱۶ ـ۱۸ خو چې کوم وخت په لسم باب کښې تر آیت ۲۰ د یافث او د حام د اولاد ذکر وشي نو داسې وینا کیږي "او د سام هم زامن وشو هغه د ګرد بني عبر پلار او د یافث مشر ورور وهٔ." (۲۱، ۲۲) نو دا مطلب خو نهٔ دے چې سام او یافث سکه ورونه وو او حام ئې ناسکه؟ او ۹: ۲۵ـ۲۷ کښې چې لکه د کنعان ذکر کیږي نو آیا د دهٔ لکه چې مونږ وړومبے هم استفهام کړے د ورور کیدو ګمان به ئې بې ځایه وي؟ والله اعلم بالصواب.

له اخلاقي، نظریاتي او تاریخي نقطهٔ نظره چې د بائبل لږ غوندې جاج واخست شو د دهٔ له رویه د داخلي شهادت په بنا وئیلے شو چې په موجوده حالت کښې نهٔ خو د رشد و هدایت مصدر او د اسماني کتاب ګڼلے کیدو قابل دے او کهٔ ټول یا ځنې اجزائے لکه توریت، زبور او انجیل چرې وو لکه زمونږ په حقه عقیده ده (او خدائے خبر چې نورې کومې کومې برخې چرې وے یا نه) نو یقیناً ډیر ردوبدل پکښې شوے دے. او د هدایت تعلیم ترې چرته حذف کړلے شوے او چرته ورسره کفر او ضلال ورګډ کړلے شوے دے. او هم له دې کبله ئې تاریخي حیثیت هم ډیر زیات غیر معتبر دے.

بې ځایه به نهٔ وي کهٔ په دې لړ کښې څهٔ خو خارجي شهادت هم وخیړل شي. د زړې عهدنامې old Testament وړومبو پینځو کتابونو سفر تکوین یا پیدائش Genesis خروج Exodus احبار leuiticus اعداد numbers او استثنا Deuteronomy ته پینټاټیوک Pentateuch یا پنج کتاب وائي او هم دغه پنج کتاب په توریت بلل شي. د بائبل ویسټ منسټر ډکشنری کښې په پنج کتاب یوه ډیره اوږده مقاله درج ده چې ابتدا ئې

داسې کيږي:

د زړې عهـدنـامې ورومبي پينځۀ کتابونه پيدائش، خروج، احبار، اعداد، او استثنا. دا لـفـظ چرته په مقدس کتاب کښې نۀ دے راغلے. بني اسرائيل دغه کتابونه مجموعي طور سره تـوريـت بـلـل.... دا امـر نـغـوتـه کوي چې پينځۀ کتابونه يو ګټل کيدل او تر اوسه په عبراني نسـخـو کښې هم دغسې دي اګر کۀ د خپلو د سر د الفاظو له رويه ورته بيله بيله حواله کيږي په پيـنـخـو مـمـيـزو کـتـابونو کښې د ويش ذکر جوزفس کړے دے.... د دۀ ابتدا به له يوناني متـرجـمـانـو شـوے وي يا به زوړ وي. ص ۴۶۵ د دۀ ابتدا الخ يعني د دې ويش ابتدا الخ. زوړ وي. يعني دا ويش. محذوف ځايونه صرف حوالې دي.

پـه عبراني قلمي نسخو کښې د پنځ کتاب په حيثيت هم د يوۀ کتاب موجودګي او بيا ورتـه پـه طـور د بيلو بيلو کتابونو حواله کيدل، د جوزفس د دغه ويش ذکر کول، د دۀ يعني د ويـش ابتـدا لـه يـونـانـي مترجمانو کيدل او يا ئې وختيـنے کيدل (ګوندې هم په عبراني حالت کښـې کيـدل) د غور قابلې خبرې دي. بيا ئې ځائے په ځائے د هغو برخو ذکر دے چې د مقالې د ليکونکي په خيال د حضرت موسیٰ کليم الله عليه السلام تصنيف او د هغو مبارکو د قلب او دمـاغ نتيجې دي. توريت لکه چې له قرنونو راهسې اوس دے، کښې به د هر چا ويناګانې او د خيـال او فکر نتيجې ورګډې وي خو توريت لکه چې جناب موسیٰ کليم الله عليه السلام قام ته ورکـړے وۀ بـې کم و کاسته د الله جل شانه مبارک کلام او نور او هدايت وۀ او د هغه د جليل الـقـدر او عـظـيـم الـمـرتـبـت رسول موسیٰ عليه السلام له مجاله او شانه بعيد وو چې څۀ کمے زياتے ئې پکښې کړے وے. د مقالې له اخره دريم پيراګراف داسې شروع کيږي.

"تـاهـم د پيـنـتـاتـيوک د مـوسـوي الاصـل کيـدو د عـقيـدې دا مـطـلـب نـۀ دے چـې پيـنـتـاتيوک په خپل موجوده هيئت کښې د موسیٰ عليه السلام له لاسه راغلے دے. د ژبو ارتـقـا او تـغيـرات مـعـلـوم دي او د سامي او نورو ژبو په حقله زمونږ د علم له رويه دا په ګرانه اغـلـبـه ده چې د مـوسـیٰ عـليه السلام د وخت عبراني د بائبل د عبراني په شان وه. کۀ عبراني کـاتبـانـو د پنځ کتاب ژبه نوې کړے هم وي پنځ کتاب به په حيثيت د يوۀ اثر موسوي وي. په دې خبـره هـډو د زور اچـولـو څـۀ حـاجـت نـۀ پيـښيږي چې په قديمه مشرق ادنیٰ (زوړ نزدې ختيز) د دستاويزي جعل په حقله څۀ قدرې شهادت هم شته." (ص ۴۷۰)

دغـه عبارتونه چې د کومې ذهني تلوسې پېدولې کوي هغه او سبب ئې څيړنې او انتقاد تـه اړ نـۀ دي. البتـه د جـوزفس په حقله د وينا به څۀ قدرې وضاحت وکړم. فليوئيـس جوزفس Flavious Josephus يـو يهـودي عـالـم وۀ چـې په يوناني ژبه کښې ئې د بني اسرائيل يا د

يهودو د جنګونو تاريخ او اسرائيلي عتقيات Jewish Antquities چې تر ۲۲ ء د يهودو تاريخ دے ليکلے دے. د دهٔ زمانه له ۳۷ء نه تر ۹۸ ء وه. د زړې عهدنامې چې پينتا تيوک يا پنځ کتاب ئې يوه برخه ده يوناني ترجمه چې په سيپټو آجنټ يا سيپچو آجنټ Septuagiant مشهوره ده چې د مصر ذ يوناني بادشاه ټولمي فلاډيلفس چې د ټولمي (بطليموس) اول زوے وهٔ په عهد (۲۸۴ ــ ۲۴۷ ق م) کښې د هغهٔ په وينا شوې وه نو غالباً چې د يادې شوح مقالې ليکونکے دا تاثر پيدا کول غواړي چې کهٔ جوزفس د توريت يا القانون په پينځو کتابونو کښې د ويش ذکر کړے دے نو دا د يوناني ترجمې په بنا دے. هم دغسې شوه خو هر کله چې وليدل شول چې د يوناني ترجمې نه وړومبے د ويش له امکانه هم مقاله ليکونکے قطعاً منکر نهٔ دے نو کهٔ مقاله نګار ته د دې ويش د امکان احساس شته او کهٔ دغه ويش د يوناني ترجمې نه وړومبے وهٔ نو جوزفس به ئې د يوناني ترجمې په بنا ولې ذکر نهٔ کوي. نو د دې قسمه نغوتې کولو څهٔ ضرورت پاتې کيږي چې ګوندې دغه ويش غالباً چې وړومبے خل په يوناني ترجمه کښې شوے وهٔ. او د دغه ترجمې نه وړومبے په ترتيب او تدوين يا متن کښې ګوتې نهٔ وے وهلے شوے.

په "دي اولډ ټيسټيمنټ اينډ موډرن سټډې" The Old Testament and Modern Study يعنې "زړه عهدنامه او نوې مطالعه" نومے کتاب کښې چې په خپل موضوع د دولسو مقالو مجموعه ده او ښاغلي ايچ ايل رولے H.H Rowley مرتبه او آکسفرډ يونيورسټي پريس خوره کړې ده د کيمرج يونيورسټي ښاغلي پروفيسر ډي ونټن ټامس Professor D. Winton Thomas د زړې عهدنامې متني انتقاد The Testual Criticism of the Old Testament د سرخط لاندې خپله مقاله ليکلې ده او وخت په وخت چې کومې موندلے شوې دي د هغو په رڼا کښې ئې د زړې عهدنامې د متونو جاج اخستے دے او سره د لږ ډير هغه دغه او خو کهٔ نو خپله مقاله ئې په دې وينا ختمه کړې ده.

"Our Survey of some of the more important work which had been done in the last generaion in the sphere of the textual criticism of the Old Testament will, it is hoped, have given the reader some idea of its scope and significance. We may conclude by asking to what extent it has brought us nearer to aim attainment of the around aim of textual criticism, which is the recovery of the original Hebrew text. This aim, it should never be forgotten, is an ideal one, and will ever remain so. It is impossible of complete attainment. There is indeed a sense in which it is true to say that we are as far off from its attainment to day as we ever were. The work of the last generation has made us aware of this fact. It has, however, also made it clear that the accession of new material, the application of new methods, and a greater understanding of the complexity of the problems, involved, have opened us new possibilities of advance towards the attainment of the ideal aim which the textual critic has set for himself. It is no exeggeration to say that the last generation has been one of very considerable achievement in the sphere of textual criticism. This achievement however, only throws into higher relief the immensity of the problems which it has bequeathed to this, and future generation. It is

much to be hoped that there may not be wanting scholars who will be willing to undertake research in this sphere of work, which, if it is not among the more exciting aspects of old Testament study, is yet fundamental to them all."

ترجمه: "په تیره پیړی کښې چې د زړې عهدنامې د متني انتقاد په دائره کښې کوم اهم کار شوی دی کیږي نو د هغهٔ مو چې کومه څیرنه وکړه هیله کیږي، لوستونکي ته به ئې د حیطې او اهمیت څهٔ خو نخښې ورجوتې کړے وي. مونږ به ختمونه په دې پوښتنې وکړو چې دې (څیرنې) تر کومه حده د متني انتقاد منلے شوے نخښې ته نزدې راوستلي یو. کومه چې د اصل عبراني متن بیامونډنه ده باید چې هیڅوک هیره نهٔ کړے شي چې دغه یوه مثالي نخښه ده او تل به هم دغسې وي او بشپړ رانیوهٔ ئې ناکیدونې دې. دا وئیل چې له رانیوو ئې څومره چې مونږ هر کله لرې وو نن هم یو په واقع کښې د یوې معنې سره رښتیا دې. د تیرې پیړی کار مونږ له دې واقعیته خبردار کړو بیا هم دهٔ (دغه کار) سپینه کړه چې د نوې مواد اضافې، د نوؤ منهاجونو احتوا او د رادوځارو مسئلو په الوولتیا زیاتے پوهې د هغهٔ مقصد چې متني نقاد ځان لره تاکلے دے د رانیوؤ لورې ته د وړاندې تګ دپاره نوې امکانات رابرڅیره کړل. دا وینا مبالغه نهٔ ده. چې تیره پیړی د متني انتقاد په دائره کښې د ډیرې زیاتې ګټنې پیړی وه. بیا هم دغه ګټنه د هغو مسئلو چې دے (تیرې پیړی) اوسنی او راتلونکو پیړو ته راپریښے دې د ستروالي نخښې لا ببروي. په ځائے ډیره هیله کیدونکې ده چې د کار په دې دائره کښې چې اګر کهٔ د زړې عهدنامې د مطالعې په اړخونو کښې زیاته ګرموونکې نهٔ ده خو بیا هم د هغو ټولو اړخونو دپاره مونډیزه ده. په خوښه د مرستې کولو دپاره به عالمان نشت نهٔ وي."
(ص ۱۵۸، ۱۵۹ د مقالې اخرې پیراګراف)

د بائبل د زړې عهدنامې عام طور سره مشهور او متداول دوه متنه دې مسورائي متن Mussoretie Text او متن هفتادي سپتواجنټ یا سیپچو آجنټ متن Septuagiant Textچې مونږ وړومبے هم یاد کړے دے او په یوناني ترجمه مشهور دے او په دغې نامه دې دپاره بللے شي چې اوهٔ اویا عالمانو ئې ترجمه کولو کښې کار کړے وهٔ. د میسورا معنې روایت ده او میسورائي متن د یهودو علماؤ او پوهانو په روایاتو مبني دے. د دغو دواړو متنونو خپلو کښې هم اختلاف وهٔ. تقریباً د نن نه دوویشت کاله اګاهو په ۱۹۴۷ء کښې د بحر میت په خوا کښې په یوهٔ غار کښې نغښتې پارچې بیامونډلې شوې چې د زړې عهدنامې څهٔ برخې پرې لیکلے وے. دا پارچې ډیرې زړې وے. د دوې پوره حال او کیفیت خو لا نهٔ دے معلوم خو هسې بریښې چې د یادو شوو متداولو دواړو متنونو سره بیلتون لرې وګورئ د جے ایم ایلیګرو "د بحر میت نغښتے" The Dead Sea scrollsباب څلورم د دغو نغښتو متن کله خو میسورائي متن او کله هفتادي متن سره سم وي. او کله له دواړو بیل.

چې څۀ د زړې عهدنامې نو هم هغه د نوې عهدنامې حال دے هر کله چې د تاريخ مرصع هغه برخه چې کومه د سيد المرسلين خاتم النبيين حضرت محمد مصطفیٰ عليه الصلوٰة والسلام نه د وړومبے تيرو شوو خنو پيغمبرانو عليهم السلام حالات بيانوې اکثر او بيشتر په زړه عهدنامه مبني ده او نوې عهدنامه زمونږ د کتاب کوم تړوک يا کومې برخې سره تعلق نۀ لري نو له دې کبله مونږ خپل انتقاد صرف زړې عهدنامې پورې محدود وساتلو.

د زړې عهدنامې په يوه ډيره محدوده دائره کښې (اگر کۀ دا خبره بالکل دلته ختمه نۀ ده) په حيثيت د يو ديني، روحاني او اخلاقي کتاب او تاريخي دستاويز جاج اخستو نه پس هر کله چې پورتنے مضمون د حضرت نوح عليه السلام حال لکه د خنو نورو مضمونونو د زړې عهدنامې او قرآن حکيم تر مينځه مشترک دے نو بايد چې په دغه باب د قرآن پاک ارشادات هم وخيرلے شي. دلته بـه د هغې خبرې چې وړومبے هم کړلے شوې ده اعاده ضروري وي يعني قرآن حکيم چې بنيادي طور سره ديني، روحاني او اخلاقي کتاب دے او له تاريخي واقعاتو او قصو له بيانه ئې مقصد او مدعا هدايت، عبرت او بصيرت او د ښو خويونو لوړو اخلاقو او د وچت فکر ښکلي کردار او سپيڅلي شخصيت تخليق او تعمير وي نو په دې معيار کۀ د قرآن حکيم نۀ صرف يو بلند پايه بې مثله او بې عيبه او بې شکه و ريبه اسماني کتاب کيدل ثابت دي او لکه چې دې نو پکښې د بيان شوو واقعاتو صحت او صداقت ئې هم له دې رويه يقيني دے. او دې دپاره ورته (العياذ بالله) د شک په نظر کتل هيڅ کله معقول او جائز نۀ شي کيدے چې څنې وخت د يو داسې کتاب بياناتو سره معارض دي يا ئې ترې مرسته نۀ کيږي چې د هغه کتاب خپل حيثيت نۀ صرف محل نظر بلکې قطعي غير معتبر او ډير ځايه صريح غلط او د حق خلاف دے.

په قرآن حکيم کښې د حضرت نوح عليه السلام ذکر مبارک په کثرت ډيرو سورتونو کښې راغلے دے خو محض د اختصار په غرض له هغو به د څنو سورتونو په اقتباساتو انحصار او اکتفا وکړو. په سورۀ اعراف (۷) ۵۹-۶۵ کښې الله جل شانه فرمائي:

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ () قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖٓ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ () قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ وَّ لٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ () اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَ اَنْصَحُ لَكُمْ وَ اَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ () اَوَ عَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَ لِتَتَّقُوْا وَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ () فَكَذَّبُوْهُ فَاَنْجَيْنٰهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَ اَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا عَمِيْنَ ()

ترجمه: بیشکه مونږ نوحٔ د هغهٔ قام وته واستوهٔ نو وې وئیل ورته چې په زما قامه عبادت د الله کانئ بې د هغهٔ نه ستاسو څوک معبود نشته زهٔ تحقیق په تاسو د یوې لویې ورځې له (راتلونکې) عذابه ویروم. د دهٔ د قام مشرانو وویل چې مونږ صفا تا په څرګنده غلطه کښې وینو. هغهٔ وویل چې په زما قامه ما لره هیڅ غلط نشته او زهٔ خو لا استاځے یم د جهانونو د پروردګار له لوري. د خپل پروردګار راوئیلي شوي در رسوم او ښهٔ مو غواړم او د الله له لوري له هغه څهٔ خبر یم چې نهٔ یئ ترې تاسو خبر، تاسو نو په دې تعجب کوئ چې ستاسو پروردګار له لوریه درته نصیحت راغے په ذریعه د یوهٔ کس له تاسو چې ومو ویروي دپاره د دې خان وژغورئ او چې رحم درباندې وکړے شي. نو هغه ئې دروغژن وبللو او مونږ هغه او چې څوک ورسره په کشتئ کښې وو وژغورل او هغه کسان مو ډوب کړل چا چې زمونږ آیتونه په دروغو بلل. حقه ده چې هغې ړلې ځانونه ړانده کړي وو. په سورهٔ نوحٔ ۷۱: ۱-۶ کښې ارشاد باري دے:

إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ () قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ () أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ () يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ ۖ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ () قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا ()

ترجمه: تحقیق چې مونږ نوحٔ د هغهٔ قوم وته واستوهٔ چې ورومبے له دې چې پرې درډونکے عذاب راشي خپل قوم ویروه. وې وئیل په زما قامه تحقیق چې زهٔ تاسو لره ویرونکے یم ښکاره. دا چې عبادت د الله کانئ او وویریږئ له هغهٔ او وینا مې وهٔ منئ. ګناهونه به مو وبخښي او تر یوهٔ ټاکلي وخته په ډیل درکړي. تحقیق هرکله چې د الله ټاکلے وخت راشي (نو) نهٔ اټالیږي کشکے تاسو پوهیدونکي وئ. (اخر) هغهٔ وویل په زما پروردګاره ما خو خپل قام ورځ او شپه وبللو او (حال دا دے چې) زما بلنې ئې څهٔ زیات نهٔ کړهٔ خو (ترې ئې) تیښته.

او وروستي آیتونو کښې هم د هغو مبارکو علیه السلام د خپل قام د حق او نجات طرف ته د بلنې او د هغه قام د حال او مال د سمولو دپاره د زیار او مینود او د بدبخته قام د سرکښئ او اغیر ذکر او بیان دے. آنجناب علیه السلام په بدبختو د عذاب د راتلو دپاره تر هغه وخته له خدایه پاکه سوال نهٔ کوي او نهٔ عذاب راځي چې تر څو بدبختو په خپلو کړو او وئیلو د خدائے تعالیٰ د مغفرت بخښش او رحم و کرم دروازې بندې نهٔ کړے او چې تر کومه ئې په کړهٔ وئیل دواړو پخپله د عذاب غوښتنه ونهٔ کړه. بدبختان هغو مبارکو علیه السلام ته وائي:

قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ () قَالَ اِنَّمَا يَأْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَ مَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ () (سورة هود ۱۱ : ۳۲،۳۳)

ترجمه : هغوي ووې په نوحؑ بحث خو تا له مونږه وکړو او (بيا) ډير بحث دې راسره وکړو نو کوم شی ته له رټنو نه راباندي (اوس) چې لوظ ئې راسره کوې. هغهٔ (ورته) ووې چې را به ئې ولې درباندې الله کهٔ ئې خوښه وه او نهٔ يئ تاسو ئې بې وسه کونکي. او

قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰنُوْحُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمَرْجُوْمِيْنَ () سورة شعراء ۲۶ : ۱۱۶)

ترجمه : هغو ووې که نهٔ جاروځې په نوحهٔ نو ارومرو به په کاڼو له ويشتليو شوؤ څخه شې.

او دغو ړندو سرکښو به خپلې ډلې ته وې چې خپل خدايان باطل معبودان هغه بتان چې په خپلو لاسو ئې جوړ کړي وو مهٔ پريږدئ:

وَ قَالُوْا لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ وَ لَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَّ لَا سُوَاعًا وَّ لَا يَغُوْثَ وَ يَعُوْقَ وَ نَسْرًا () (سورة نوح ۷۱ :۲۳)

ترجمه : او وئيل به ئې چې ګورئ پرې نهٔ ږدئ خپل خدايان او ګورئ چې پرې نهٔ ږدئ ود او نهٔ سواع او نهٔ يغوث او يعوق او نسر.

نو اخر بيا آنجناب عليه السلام هم د ذوالجلال په بارګاه کښې داسې عرض کوي:

قَالَ رَبِّ اِنَّ قَوْمِيْ كَذَّبُوْنِ () فَافْتَحْ بَيْنِيْ وَ بَيْنَهُمْ فَتْحًا وَّ نَجِّنِيْ وَ مَنْ مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ () سورة شعراء ۲۶ : ۱۱۷،۱۱۸)

ترجمه : هغهٔ ووې يه زما پروردګاره قام مې دروغژن وبللم زهٔ نو وکړه پريکون زما او د هغوي تر مينځه او وژغوره ما او له ما سره چې څوک له مؤمنانو څخه وي.

وَ قَالَ نُوْحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا () اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوْا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوْٓا اِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا () رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ط وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا تَبَارًا () (سورة نوح ۷۱ : ۲۶ ـ ۲۸)

ترجمه : او نوحؑ ووې چې په زما پرودګاره په زمکې له کافرانو څخه استوګن پرې مهٔ ږدې. کهٔ پرې دې ښول نو ستا بندګان به بې لارې کوي او نهٔ به زووي خو بدکاران کافران (کيدونکي) (۱) يه زما پروردګاره ما وبخښې او مور پلار مې او هر هغه چې د ايمانه سره مې په کور داخل وي او (هم نور) مؤمنان او مؤمناني (وبخښې) او د زياتي ګرو بې له بربادی څهٔ مهٔ زياتوې.

---

(۱) هسې خو د قرآن مجيد او حديث شريف نه ثابته ده چې هر بچے په فطرت صحيحه او ډير ښهٔ حالت کښې پيدا کيږي خو د هر يوهٔ انسان په اخلاقو، عاداتو، اعمالو او افکارو د توارث او تربيت اثر هم لا زماً کيږي نو د دغسې بدبختو چې د حضرت نوحؑ ورسره واسطه وه د ذهنيت او تربيت د اثر اخستونکي نسل انجام په مجموعي حيثيت ښکاره وهٔ.)

سبحان الله د هغهٔ د استاخي تسليم او رضا چې د خپل اهل دپاره هم دعا غواړي نو بس د هغه د چا دپاره، صرف هغو لره چې مؤمنان دي. کهٔ د آنجناب عليه السلام په نظر کښې د څهٔ څيز وقعت او ورسره ئې حقيقي محبت دے نو هغه ايمان، اسلام دے. کفارو به چې کومې ناسازې او نابودې وئيلے نو يوه پکښې دا هم وه چې د آنجناب عليه السلام پيروان رضي الله عنهم کم او کوز خلق دے. (نعوذ بالله) نو لکه چې الله پاک په خپل مبارک کلام کښې فرمائي حضرت نوحؑ به کفارو ته وئيل چې:

.... وَ مَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَ لٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ () وَ يٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ () سورهٔ هود ۱۱: ۲۹، ۳۰)

ترجمه : او زهٔ د هغو چې ايمان ئې راوړے دے شړونکے نهٔ يم، هغوي هم ضرور د خپل رب ملاقات کونکي دي خو تاسو يو ناپوهي کونکے قام وينم. او زما قامه کهٔ زهٔ هغوي وشړم نو د الله له نيوو به مې څوک ژغوري نو تاسو دومره پام هم نهٔ کوئ.

نو ښکاره شوه چې د نجات ذريعه خو نهٔ چا سره کهٔ هغه پخپله د خدائے تعالیٰ هر هومره محبوب او مقرب هم وي جسماني رشته ده او نهٔ دنياوي وجاهت او طبقاتي مدارج دي بلکې د حق، د خدائے د پيغام قبلول او منل دي. دلته ښائي چې آنجناب عليه السلام د خپل زوي په حقله کوم سوال کړے وهٔ د هغهٔ وضاحت هم وشي. ارشاد باري دے:

وَ نَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِيْ مِنْ اَهْلِيْ وَ اِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَ اَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ () قَالَ يٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنِّيْٓ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ () قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَ اِلَّا تَغْفِرْ لِيْ وَ تَرْحَمْنِيْٓ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ () سورهٔ هود ۱۱: ۴۵-۴۷)

ترجمه : او نوحؑ غږ وکړو خپل رب ته او وې وئيل چې زما ربه هم زما له اهله دے زوے زما. او حقه ده وعده ستا او بهتر حکم کونکے ئې ته له ټولو حکم کونکو وې فرمائيل يه نوحهٔ نهٔ دے هغه ستا له اهله ځنې چې ناکاره دے عمل ئې. نو مهٔ کړه سوال راځنې د هغه څهٔ چې نهٔ ئې ترې خبر. نو بس پوهوم دې چې نهٔ شے له ناپوهانو ځنې. وې وئيل چې زما ربه زهٔ ستا پناه غواړمه له دې چې سوال درځنې وکړم د هغه څهٔ چې نهٔ يم ترې خبر. او کهٔ ته مې ونهٔ بخښے او زحم راباندې ونهٔ کړے نو زهٔ به له زيان کوونکو ځنې شم.

لکه چې ابوالکلام آزاد صاحب مرحوم فرمائي (ترجمان القرآن جلد ۲ ص ۱۹۱، ۱۹۲ د حاشيې نوټ) حضرت نوح عليه السلام د خپل دغه زوي له کفره خبر نهٔ وهٔ او د مولانا مرحوم د دغه خيال تائيد له دې تنبيه هم کيږي چې د هغهٔ څهٔ سوال راځنې مهٔ کوه چې نهٔ ئې

نرې خبر. ستائيلے مولانا مرحوم فرمائي "حضرت نوحؑ د خپل زوي له كفره نهٔ وهٔ خبر نو ځكه نې عرض وكړو چې هغه زما له اهله ځني دے او زما د اهل او عيال د حفاظت تا وعده كړې ده. ارشاد وشو چې حال حقيقت بل شان دے او تهٔ ترې نهٔ ئې خبر. هغه خو له هغو ځني دے د چا په باب چې وئيلي شوي دي چې "ولا تخاطبني في الذين ظلموا" (او د ظالمانو دپاره ما مهٔ بله.) او "الا من سبق عليه القول" (خو هغوي چې په چا له وړومبيه حكم وشو) لكه چې په آيت ۳۷ او ۴۰ كښې تير دي. دلته دا سوال (د مولانا ابوالكلام صاحب مرحوم تصريح د نظر وړاندې) پيدا كيږي چې هر كله حضرت نوح عليه السلام خپل دغه زوے په مؤمنانو كښې گنړلو او له كافرو ئې نهٔ حسابوهٔ نو خاص طور سره د دهٔ دپاره ئې سوال ولې كاوهٔ. نو د دې په خواب كښې وئيل كيدے شي چې گوندې حضرت نوح عليه السلام ته د دغه زوي عمل نهٔ وهٔ څرگند او هغهٔ ترې خپل كفر او بدعملي پټه ساتلې وه. خو داسې څهٔ خبره وه چې هغوي د دهٔ په حقله له خدايه د سوال كولو ضرورت محسوس كړو. مثلاً څهٔ وخت يا وخته د دهٔ د كافرو سره په ناستې پاستې ليدل كيدل يا په كشتئ كښې هغه دلچسپي او ورسره هغه وابستگي نهٔ لرل چې كومه مؤمنانو درله يا چې مؤمنان كشتئ كښې كښيناستو دپاره ټوليدل د دهٔ غير حاضرې داسې خبرې دي چې د نوح عليه السلام په مبارك زړهٔ كښې ئې د دهٔ له كبله تلوسه او خلجان پيدا كولے او آنجناب ئې د خدائے تعالیٰ په بارگاه په سوال كولو اماده كولے شو. په هر حال چې تر څو ورته د الله جل شانه له طرفه خبردارے نهٔ وهٔ شوے نو د خپل دغه زوي له هغه حاله نهٔ وو خبر چې دے ئې د عذاب وړ گرځاوهٔ. چې كوم وخت هغه ذات قدسي صفات د خپل او جهانونو د پروردگار له طرفه خبردارے بيامومي نو اطاعت او فرمانبرداري او تسليم او رضا د ويرې د التجا او رجا حالت او كيفيت ئې د ليدو او كتو دے. او چې خواب عرض كوي نو څومره له معرفته ډک. دا نهٔ وائي چې زهٔ به بيا داسې نهٔ كوم. دې دپاره الله پاک ته ځان سپاري چې د كولو نه ئې په خپله پناه او حفاظت كښې واخلي او ورسره د هغهٔ د بخښنې او مهربانئ سوال ترې كوي. او عرض ورته كوي چې كهٔ دا نهٔ وي نو زما خدايه زهٔ به له زيان كارو شم. نو له بارگاه الٰهي ورته حكم او ارشاد سره د سلام او بركتونو د زيرې كيږي:

"قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَ بَرَكٰتٍ عَلَيْكَ وَ عَلٰىٓ اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ "الخ

يعنې ووئيل شول چې نوحهٔ كوز شه سره د سلام او بركتونو زمونږ د لورې چې په تا به وي او په هغو ډلو چې درسره دي. (سورهٔ هود ۱۱ :۴۸)

نو تر څو چې د قرآن عظيم تعلق دے (په عكس د بائبل) له رويه ئې هغه ټول كسان چې حضرت نوحؑ سره ئې جسماني رشته لرله له عذابه بچ كيدونكي نهٔ وو. او نهٔ بچ

کیدونکي صرف د هغوي د کورنی خلق او خپل خپلوان وو. بلکې لور کسان هم چې د کفارو په نظر کښې کوز او سپک او د الله په نزد او هغه استاځي وته د حق، اسلام قبلولو له کبله درانهٔ وو. نو قرآن پاک د ارشاد او هدایت په سلسله کښې د نورو خبرو نه علاوه په دې خبره هم خاص زور اچوي او وضاحت ئې کوي چې د نجات دارومدار په خپلو او تعلقاتو نه بلکې د خدائے په فضل دے چې چا ته د ایمان او نیک عمل توفیق وبخښي تر دې چې د الله تعالیٰ په مخلوق کښې د ټولو نه د محبوب وجود باوجود، د هغه جل شانه د ټولو نه د لوے بنده او له ټولو نه لوے او اخري پیغمبر حضرت محمد مصطفیٰ علیه افضل التحیات الصلوٰت و علیٰ آلہٖ و اصحابه اجمعین ترهٔ ابولهب هم هغو مبارکو سره د ډیرې نزدې خپلوی باوجود هم د هلاکت نه خلاص نهٔ شو بلکې د هغې ذات قدسي صفات مصدر برکات علیه الصلوٰة والسلام د زمانې په کفارو او منکرانو کښې کهٔ په چا باندې په قرآن پاک کښې په نامه خصوصیت سره لعنت او د هلاکت حکم صادر شوے دے نو هغه ابولهب او د هغهٔ ښځه دې.

د خدائے د رسول ﷺ مخالفت چې په نورو الفاظو کښې د رسالت الٰهي، د الله د دین، د حق او صداقت د پیغام مخالفت دے. مرتکب ئې رسول سره رشته او خپلوي د خدائے پاک د مکافات له قانونه نهٔ شي ژغورلے. د سرور کائنات حضرت محمد مصطفیٰ علیه الصلوٰت والسلام نه پس (د درجې له رویه) په انبیاء او رسل کښې د جناب حضرت ابراهیم خلیل الله علیه الصلوٰة والسلام مقام دے. چې امت مرحومه محمدیه ﷺ هم د هغو مبارکو ملت یعني ملت ابراهیمیه دهٔ. قرآن پاک مونږ ته ښیي چې د هغو مبارکو پلار آذر هم د خدائے تعالي د پیغام نه د انکار په سبب هلاک او په دائمي عذاب کښې گرفتار شو. له دیو او له دغسې نورو مثالونو ځنې د حضرت نوح علیه السلام د زوي مثال (چې ذکر ئې وشو) او هم ئې د ښځې مثال دے لکه د هغوي د زوي په نافرماني او هلاکت چې بائبل غلے دے نو دغسې د هغوي د کافرې ښځې په کفر او هلاکت هم. قرآن کریم په سورهٔ تحریم ۲۲ آیت لسم کښې د هغې او ورسره د حضرت لوط علیه السلام د کافرې ښځې د کفر او هلاکت ذکر هم کوي. ارشاد دے:

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِیْنَ کَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّ امْرَاَتَ لُوْطٍ ؕ کَانَتَا تَحْتَ عَبْدَیْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَیْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ یُغْنِیَا عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَیْئًا وَّ قِیْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِیْنَ ()

ترجمه : الله تعالیٰ هغو لره چې کفر ئې وکړو د نوحؑ د ښځې او د لوطؑ د ښځې مثال بیانوي. هغه دواړه زمونږ له صالحانو بندگانو ځنې د دوؤ په نکاح کښې وے نو هغو دواړو ښځو بې ایماني وکړه له هغو دواړو (صالحانو) او هغه دواړه هیڅ پکار نهٔ شول. د هغو دواړو ښځو د

خدائے د وړانـدې ووئيل شـول چې دواړه ښـځې پـه اور کښـې سره د نورو ورننوتونکو ورننوزئ.

ورپسې اهل ايمان دپاره مثال دے. په يوولسم آيت کښې د حق تعاليٰ نه د يو ډير لوے بـاغي او د هغـهٔ جـل شانه د بندگۍ د سر راکښونکي او انکار کونکي يعنې د فرعون د بي بي آسيه بـنـت مـزاحـم رضي الله تعاليٰ عنها او د هغې نفس قدسيه د ايمان، پاکيزگۍ او سعادت مـنـدۍ ذکـر او بيا په دولسم آيت کښې د صديقې حضرت بي بي مريم بنت عمران رضي الله تعاليٰ عنها د عصمت او عفت، ايمان، صداقت او اطاعت بيان دے.

چې تـر څـو د حـضـرت نـوحٌ د کـافـرې ښـځې تـعلق دے نو په قرآن مجيد کښې د حـضـرت نـوح عـليـه السـلام په حقله د ارشاداتو نه اندازه کيږي چې د هغو مبارکو دغه ښځه غالباً چې د طـوفـان د عـام عـذاب نـه وړومبے خپل کيفر کردار ته رسيدلې وه. او لکه چې د خـواجـه نـعـمـت الله له بيانه او له نورو اسنادو او روايتونو هم ليدهٔ شي هم دغه د جناب نوحٌ د کافر او په طوفان کښې د ډوبيدونکي زوي مور وه.

هر کله چې د قرآن مجيد او بائبل په مشترکو موضوعاتو او مضامينو کښې د حضرت آدمٌ او حـضـرت نوحٌ د ژوند واقعات د زمانې په لحاظ اوليت لري او د مؤخر الذکر مبارک په عهـد کښـې د الله جـل شـانـه يو عظيم نښان د طوفان په شکل کښې د حق او باطل تر مينځه د فيـصـلې دپاره ښکاره شوے وهٔ. چې د انساني تاريخ يوه ډيره لويه او اهمه واقعه وه. نو اګر کهٔ په مخ به هم مونږ د بائبل د بياناتو چې تر کومه حده زمونږ د وړاندې کتاب تاريخ مرصع کښې وارد شوي دي د قرآني بياناتو او اسلامي نقطهٔ نظر په رڼا کښې جاج اخلو. مونږ د قرآن پاک او بـائبـل پـه اختـلافاتو د دغو دوؤ زمانو د واقعاتو په باب د بيانونو د نظر د وړاندې څهٔ خو تفصيلي بـحـث وکـړو هيـلـه ده چې هر کله په مخ داسې مقامات او پرې بحث راځي نو د دغه تير شوي بحث يادآوري به هم کيږي چې مونږ د بائبل د متني صحت جاج ہکښې هم واخست شو.

۸. ن ز ورق ۵ از ار فحسـد سـالح متولد شد. ن ح جلد ۱ ص ۱٦ "از ارفخشد شالخ متولد شـد" زړه عهـدنـامـه پيدائش ۱۱ : ۱۲ صالح، سالح يا شالخ) اردو ترجمه "سلح" د بائبل په قـامـوس ص ۵۲۵ او ۵۵۲ تلفظ "ش ے ل ہ يا ش ے ل ح" ورکړے شوے دے. په هر حال دا نـامـه دې ثـمـود طرف ته د مبعوث شوي پيغمبر حضرت صالح عليه السلام نهٔ شي ګڼلے ځکه چې د هـغـو مـبـارکـو زمـانه د حضرت هود عليه السلام نه وروستو وه او کهٔ غابر (يا عابر) في الـواقـع هـم د حـضـرت هـودٌ اسـم مبارک وي لکه چې مؤرخ مخکښې بيانوي نو دغه شالخ، صالح يا سلح د ارفحسد يا ارفخشد زوے د حضرت هودٌ پلار وهٔ.

۹ . تاریخ طبري جلد اول اردو ترجمه ص ۱۸۰ پس عاد کی طرف اللہ عزوجل نے حضرت ہود (پیغمبر) بن عبداللہ بن رباح بن خلود بن عوص بن ارم بن سام کو بھیجا۔ بعض علمائے نسب کہتے ہیں یہ حضرت ہودؑ عابر بن شالخ بن ارفخشد بن سام بن نوح کا نام ہے۔ یعني نو عاد وته الله عزوجل حضرت هودؑ (پیغمبر) زوی د عبدالله زوی د رباح زوی د خلود زوی د عوص زوی د ارم زوی د سام ولیږهٔ. د انسابو ځني عالمان وائي چې حضرت هود نامه ده د عابر زوی د شالخ زوی د ارفخشد زوی د سام زوی د نوح او ابن خلدون اردو ترجمه جلد اول ص ۲۸، ۲۹ "۔۔۔اللہ جل شانہ نے انہیں میں سے ہودؑ ابن عبداللہ بن رباح بن خلود بن عاد کو نبوت عطا فرمائی بعض نسابین نے ہود کا سلسلہ نسب اس طرح بیان کیا ہے کہ ہود عابر کے بیٹے تھے اور عابر شالخ کے اور شالخ ارفخشد بن سام کے بیٹے تھے۔" یعني الله جل شانه له هغو (عاد) ځني هود زوي د عبدالله زوي د رباح زوي د خلود زوي د عاد ته نبوت وروبخښلو. ځني نسابان د هودؑ د نسب کړی داسې بیانوي. هود د عابر زوی، عابر د شالخ، شالخ د ارفخشد بن سام زوی وهٔ. د حضرت هودؑ دغه بل نوم چرته غابر چرته عابر لیکلے دے. دواړو فارسي نسخو او پښتو ترجمه کښې غابر دے. طبري او ابن خلدون (اردو ترجمې) کښې عابر دے او بائبل کښې ایبر Ebarاو اردو ترجمه کښې ءِ عبر دے.

۱۰ د حضرت ابراهیم خلیل الله علیه الصلوٰت والسلام د پلار نوم په بائبل کښې Terah تیراح تارح یا تارخ او د ایچ پولانو H. Polano په تالمود کښې تیراخ Terach او په قرآن کښې ازر راغلے دے. دې دپاره ځنو مسلمانانو عالمانو دا خیال کړے دے چې آزر د حضرت ابراهیم علیه السلام ترهٔ وهٔ او ځني دې طرف ته تلي دي چې تارح او آزر هم د یو کس (د حضرت ابراهیم علیه السلام د پلار) دوه نومونه دي. او وائي چې اصلي نوم ئې تارخ وهٔ او صفتي نوم ئې بت یا بتانو سره د نسبت او د خپل منصب او مسلک له رویه آزر وهٔ. د مفصل بحث دپاره د حضرت مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم قصص القرآن جلد اول (د حضرت ابراهیم علیه السلام مبارک احوال) ته دې رجوع وشي. دلته به دا وئیل ضروري وي چې لکه ستائیلي مولانا صاحب مرحوم فرمائیلي دي محض دې دپاره چې د بائبل د غیر یقیني او بې اعتباره بیان او د علمائے انساب د قیاساتو له رویه د حضرت ابراهیم خلیل الله علیه التحیة والسلام د پلار نوم تارح دے د آزر د نامې تاویلات کول غیر ضروري دي بلکې چې وړومبے هم وضاحت شوے دے او لکه چې تاسو بهٔ شان سره ولیدل (او داسې ګن مثالونه هم پیش کیدے شي) چې محض د بائبل په بنا یوه خبره یقیني ګڼل غیر محفوظ دي کهٔ هغه خبره محض د تاریخي نوعیت هم وي، او د قرآن یا صحیح حدیث مخالفه نهٔ هم وي یا د ظاهري مخالفت ئې تاویل هم کیدے شي د منلو دپاره ئې یا خو د قرآن یا د صحیح حدیث تائید پکار

دے. کۀ له یوۀ ئې هم تائید کیږي نو یقیني به وي کۀ نۀ ئې ترې مخالفت نۀ موافقت کیږي نو مشتبه او مشکوکه یا قیاسي به وي. بیا پکښې د کمې درجې د یقین لرلو دپاره به ئې له نورو ذرائعو توثیق ضروري وي.

د بائبل له رویه د جناب نوحؑ او حضرت ابراهیم خلیل الله علیهما الصلوٰة والسلام تر مینځه د زماني فرق له لاندیني جدوله جوت دے:

نوحؑ

سام	د دۀ د زیږون په وخت نوحؑ د ۵۰۰ کالو وۀ.
ارفخشد یا ارفکشاد	د زیږون په وخت ئې سام د ۱۰۰ کالو وۀ.
شالخ.	د زیږون په وخت ئې ارفخشد د ۳۵ کالو وۀ.
عابر	د زیږون په وخت ئې شالخ د ۳۰ کالو وۀ.
فالج.	د زیږون په وخت ئې عابر د ۳۴ کالو وۀ.
رعو.	د زیږون په وخت ئې فالج د ۳۰ کالو وۀ.
سروج.	د زیږون په وخت ئې رعو د ۳۲ کالو وۀ.
ناحور یا ناخور.	د زیږون په وخت ئې سروج د ۳۰ کالو وۀ.
تارخ.	د زیږون په وخت ئې ناحور د ۲۹ کالو وۀ.
ابراهیمؑ	ولادت باسعادت په وخت ئې تارخ د ۷۰ کالو وۀ.

دغه موده ۸۹۰ کاله جوړیږي او د بائبل له رویه هر کله چې د حضرت نوحؑ ټول عمر ۹۵۰ کاله وۀ نو مطلب دا شو چې د آنجناب د عمر مبارک په وروستو شپېتو کالو کښې جناب خلیل اللهؑ د هغوي معاصر وۀ. او دا محض غلطه او مهمله خبره ده. او د دې خبرې دلیل دے چې د تورات اعداد او شمار د پخپله جوړو کړو قیصو نه زیات اهمیت نۀ لري. (قصص القرآن.)

ص ۱۴

جناب ابراهیم خلیل الله علیه الصلوٰة والسلام د الله پاک ډیر لوړ شاني او مقدس پیغمبر او زمونږ د هادي او شفیع خاتم النبیین سید المرسلین رحمة للعٰلمین حضرت محمد مصطفي احمد مجتبیٰ افضل التحیات والصلوٰة جد امجد او په جز د هغه ذات بابرکات او قدسي صفات له ټولو انبیاؤ او مرسلینو (علیهم السلام) افضل دي. او خیر الامم امت محمدیه ملت ابراهیمیه دے لکه چې له تیر جدوله لیدۀ شي. د جناب خلیلؑ او د جناب نوحؑ تر مینځه نهۀ او له یو تر بله یوولس کړی جوړیږي خو لکه چې وونیل شو د بائبل او اهل انساب دغه شجرې

مـخـص ظـنـي او تـخميني دي. سره د دې چې حضور سرور کائنات فخر موجودات ﷺ في الـواقـع او هـم پـه خپـل ربـتيـنـي يقين كـبـنـې د جناب خليلؑ له نسله وهٔ خو د عدنان نه پورته د سـلسـلـې پـه بـاب ئـې فـرمائيلي دي چې "كذب النسابون" يعني اهل انساب دروغ (يا غلط) وئيلي دي. هر كله چې د جناب خليلؑ نه پس دا حال دے نو تر د وړومبنو سلسلو او كړو به څهٔ حال وي.

د حـضـرت ابراهيم عليه السلام د ولادت باسعادت ځائے ته نزدې سهيل قبلې ته او د خـليـج فـارس قـطـب تـه اور نومې قديمي ښار ده چې اوس تلل العبيد بلل شي. (انبيائے قرآن) جلـد اول تـاليف د جـمـيـل احـمـد صاحب او لغات القرآن جلد اول) په اختلاف د آنجناب د مـبـارک زيـږون د ځائے نوم فدان آرام چې د بابل د نمرودانو په مملكت كښې يو مشهور ښار وهٔ راغلے دے. (د مولانا حفظ الرحمٰن مرحوم قصص القرآن جلد اول)

د حضرت ابراهيم عليه الصلوٰة والسلام قوم په بدعملي او كفر و شرک، بت پرستي او كـواكـب پـرستـي كـښـې مبتـلا وهٔ. چې الله تـبـارک و تـعالىٰ دوي مبارک د گمراه قوم په هـدايـت مـامـور او پـه نـبـوت او رسالت فائز كړل نو په دې عظيم كار كښې چې كومې كومې گـرانې سختې ورپيښې شوے او دوي مباركو چې په كوم صبر او استقامت او عزم او استقلال وزغـمـلے دغه ټول ازمائشونه او تكليفونه او د آنجناب كردار (د الله جل شانه په فضل و كرم او تـوفـيـق) د هـغـو مـبـاركـو د عـظـمـت او د جـلالـت شان روښانه دليل دے. د قوم او بادشاه (نـمـرود) مـخـالـفـت او په نتيجه كښې ئې د آنجناب عليه السلام د اور په لمبو كښې اچولے كيـدل لـه ډيـرو امتـحـانـونو څخه يو وهٔ چې كوم وخت هغه مبارک په بلو لمبو كښې واچولے شول نو لكه چې حديث شريف كښې راغلي دي په مباركه ژبه ئې دا مبارک الفاظ وو "اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ فِي السَّمَآءِ وَاحِدٌ وَ اَنَا فِي الْاَرْضِ وَاحِدٌ عَبْدُكَ" يـعـنـې "يا الله بيشكه تهٔ په اسمان كښې يو ئې او زهٔ پـه زمكـه يـوازې سـتـا نـمـنـځـونكے يم." الله جل شانه كفار ناكام كړل او اور ئې په آنجناب عليه السلام په موجب د خپل حكم "يَا نَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّ سَلَامًا عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ" سوړ او بـاعـث د سلامتيا كړو. كهٔ دوي مباركو هر څو بدبخته قام ته هدايت او وعظ و نصيحت وكړ خـو پـه ځائے د ايمان راوړلو داسې تكليف او ضرر د بدبختو په وس كښې نهٔ وهٔ چې ور وهٔ ئې نـهٔ رسـاوهٔ. اخـر جـنـاب عـليه السلام د الله جل شانه د هدايت په موجب له خپله ښاره د فرات لـويـديـز لـورې ته يوې بلې ابادئ ته لاړل. او بيا له هغه ځايه په وعظ و ارشاد او د حق تبليغ او تـلـقـيـن كـونكې حران، بيا فلسطين او بيا ئې نابلس ته تشريف وفرمايهٔ او اخر د حق د تبليغ په كـار كـښـې مصر ته ورسيدل. د حق په لاره كښې ديو هجرتونو كښې حرم محترم ئې حضرت

بي بي ساره او ورارهٔ ئې حضرت لوطؑ (چې هغوي هم الله تعالیٰ په نبوت مشرف کړل) او د هغوي ښځه هم ورسره وو. په مصر کښې بادشاه خپله لور حضرت هاجرهؓ د حضرت خليلؑ په زوجيت کښې ورکړه او هم د هغوي له مبارکه بطنه الله تبارک و تعالیٰ د رحمة للعٰلمين سرور کونين رسول الثقلين حضرت محمد مصطفیٰ احمد مجتبیٰ عليه افضل التحيات والصلوٰة لوړ شاني نيکهٔ صاحب حضرت اسماعيلؑ خپل خليل ته وروبخښل. صلی الله عليهما وسلم. د قوم له لاسه د مختلفو اذيتونو زغملو او بيلو بيلو ملکونو ته د هجرتونو ګراني سختې تيرولو نه پس بل لوی ازميښت دا وهٔ چې د الله تبارک و تعالیٰ د حکمت په تقاضا اوحکم حضرت خليل الله صلی الله عليه وسلم يو شاړ ځائې کښې هوري چې کوم ځائې نن کعبه ده خپلې دويمې بي بي مبارکې او د خپلې سپين ږيرتيا د عمر فرزند حضرت اسماعيلؑ پريښودل او اګر کهٔ پخپله ئې په فلسطين کښې قيام فرمائيلې وهٔ خو وخت په وخت به ئې د دوي ليدو له تشريف وروړو. چې حضرت اسماعيل عليه السلام لوی شول او خپل لوړ شاني باباجي عليه السلام سره د منډو کولو عمر ته ورسيدل نو د الله تعالیٰ په امر او د حضرت اسماعيلؑ د تسليم او رضا د اظهار نه پس ئې د حضرت اسماعيل قرباني د خپل او کائناتو د خالق او مالک جل شانه په بارګاه کښې پيش کړه. حضرت اسماعيلؑ الله تبارک و تعالیٰ وساتل او قرباني ته ئې د قبوليت شرف وبخښلو. له دغه پسه حق تعالیٰ حضرت ابراهيم عليه السلام ته د کعبې جوړولو حکم وفرمائيلو او هغوي چې مشر ځوی حضرت اسماعيلؑ ئې هم په دې خدمت کښې ورسره مل وو د الله پاک د حکم تعميل وکړو او کعبه شريفه ئې جوړه کړه چې تر اوسه د ګرد جهان د خدائې پرستانو، د امت محمديه او ملت ابراهيميه مرکز دی. او تل تر تله به وي.

د جناب ابراهيم خليل الله عليه الصلوٰة والسلام د عظيمې قرباني او په ډيرو ګرانو امتحانونو کښې د الله جل شانه په فضل او توفيق د صبر، استقامت او استقلال او برابر په ډير لوی عزم د اعلان حق د فرض ادا کولو نتيجه وه چې الله جل شانه هغوي د خپل مخلوق په امامت سرفراز کړل. لکه چې ارشاد الٰهي دی "وَ اِذِ ابۡتَلٰۤی اِبۡرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِکَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ قَالَ اِنِّیۡ جَاعِلُکَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ؕ قَالَ وَ مِنۡ ذُرِّیَّتِیۡ ؕ قَالَ لَا یَنَالُ عَهۡدِی الظّٰلِمِیۡنَ ﴿﴾ يعنې "او هر کله چې ابراهيمؑ د هغهٔ رب په څو حکمونو وازمائيلو او هغهٔ هغه پوره کړل (نو رب ئې ورته) وفرمائيل چې يقيني ده چې زهٔ تا د وګړي امام جوړونکې يم. (ابراهيمؑ) عرض وکړو او زما له اولاده (هم)، (رب ئې) وفرمائيل چې زما لوظ به ظالمانو وته نهٔ رسي." (قرآن حکيم ۲:۱۲۴) او هم دغه وجه ده چې الله تعالیٰ کهٔ يو ځائې په قرآن پاک کښې مؤمنانو ته فرمائي

چي "لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ الخ" يعني "تاسو لره د الله په رسول ﷺ کښې بهترينه نمونه ده." الخ. (۳۳: ۲۱) نو ورسره بل ځائے ورته دا هم فرمائي چي "قَدْ كَانَتْ لَكُمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيْ اِبْرَاهِيْمَ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ" الخ يعني "تاسو لره په ابراهيمؑ او د هغهٔ په ملګرو کښې بهترينه نمونه ده" الخ. (۶۰: ۴) او سورهٔ انعام (۶: ۱۶۱-۱۶۳) کښې د حق تعالیٰ ارشاد دے خپل حبيب حضرت محمد مصطفي ﷺ ته او د آنحضرت ﷺ په ذريعه ئې ټول امت ته دغه شان کيږي "قُلْ اِنَّنِيْ هَدٰىنِيْ رَبِّيْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ دِيْنًا قِيَمًا مِّلَّةَ اِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا وَّ مَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ () قُلْ اِنَّ صَلَاتِيْ وَ نُسُكِيْ وَ مَحْيَايَ وَ مَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ () لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَ بِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَ اَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ()" يعني "ووايه چي يقيناً زما رب ماته د سمې لارې ښئينه کړې ده د مستحکم دين د ابراهيمؑ د لارې چي (له هره کږليچه پاکه) سمه ده (د خپل رب لوري ته) او له مشرکانو څخې نهٔ وهٔ ووايه چي زما نمونځ او زما ټول عبادتونه او زما ژوند او مرينه الله د عالمينو رب لره ده. د هغهٔ څوک شريک نشته او ماته دا حکم شوے دے او يمه زهٔ ورومبنے د مسلمانانو نه." نو له ديو او د قرآن پاک له نورو آيالو ښکاريږي چي دين محمدي ﷺ او دين ابراهيميؑ امت محمديه ﷺ او ملت ابراهيميه خلق عظيم محمدي ﷺ او اسوهٔ ابراهيمي يو شے دے او هم د حضرت ابراهيمؑ مقصد او اخلاق د خير خلائق حضرت محمد مصطفي ﷺ په دعوت او بعثت او وجود باجود او ذات بابرکات کښې خپل کمال ته رسيدلي وو. او هم د حضرت سرور کائنات ستوده صفات د هغې دعا چي حضرت ابراهيمؑ او حضرت اسماعيل عليهما السلام د کعبې جوړولو په وخت د الله تعالي د ازلي او ابدي منشا مطابق د هغهٔ جل شانه په هدايت کړې وه د اجابت مظهر وهٔ، دے او تر ابده به وي. کعبه هم د امت محمديه ﷺ مرکز دے د ايثار خليلؑ د خپل زوي د قرباني يادګار دے تر اوسه هم دغه امت کښې قائم دے او هم دغه امت دے چي د سرور کائنات ﷺ سره په جناب خليل اللهؑ هم درود وائي او صلوٰة او سلام پرې ليږي. اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ.

متفرق مباحث

(۱) د حضرت ابراهيمؑ زمانه:

ښاغلے جميل احمد صاحب د "انبيائے قرآن" په ورومبي جلد کښې ليکي چ حضرت ابراهيم عليه السلام د امرافيل، امورافي، امورابي، يا حمورابي معاصر وهٔ. او د دهٔ

حکومت زمانه ۲۴۴۲ ق م او د ۲۲۸۸ ق م خواشا تاکلے شوې ده. بیا لیکي چې د سر چارلس مارستن خیال دے چې د حضرت ابراهیمؑ د ولادت باسعادت سن ۲۱۶۰ ق م او د وصال سن ئې ۱۹۸۵ ق م وۀ او بیا هم په دې ضمن کښې وائي چې د البرائیټ د تحقیق له رویه د حموراېي د حکومت زمانه ۱۷۲۸ ق م نه ۱۶۸۵ ق م وه.(انبیائے قرآن جلد اول ص ۱۶۵ ــ ۱۶۷) جان وان ډوین ساؤتهورته John Van Duyan Southworth په خپل کتاب "دي سټوري آو دي ورلډ" The Story of the Worlf یعني د "نړی قیصه" ص ۳۳ (کارډینل ایډیشن) کښې وائي "بائبل مونږ خبروي چې د عبراني قام باني ابراهیمؑ د اور Ur ښار وسیدونکے وۀ چا چې خپل پیروان د یو نوي وطن په لټون کښې صحرا ته ویستل. دا واقع په ۲۱۰۰ ق م کښې وه. د "سټوري آو دي بائبل The Story of the Bible یعني "د بائبل قیصه" مؤلف هینډرک ولم وان لون Hendrik Willem Van Loon په خپل یو بل کتاب "دي سټوري آو مین کائنډ The story of Mankind یعني "د بنیادم قیصه" په ۳۴ مخ (دي پاکټ لائبریري ایډیشن) کښې وائي زمونږ له سنے وړومبے چې څۀ وخت شلمه صدی کښې د سامي ګډبنو یوې ورې او غیر اهمې قبیلې خپل ځائیګے چې د فرات په خلۀ کښې د اور په زمکه وۀ پریښودلے وۀ او د بابل د بادشاهانو په مملکت کښې ئې د نورو مرغه ګانو (څرخایونو) د لټون منبود کړے وۀ دوي باچهي سپاهیانو شړلي وو او دوي لویدیز لوري ته د نامیشتې شوے لتې د یوې ورې توتې په لټون چې خپلې خیمې پکښې ودروي وخوزیدل. مشهور انګریزي ادیب او مؤرخ ایچ جي ویلز په خپل کتاب "د نړی کوچنے تاریخ" Short History of the World ص ۹۸ (نیلسن ایډیشن) کښې وائي: "ابراهیمؑ به دومره وړاندې لکه د حموراېي زمانه ژوند کړے وۀ." او اګاهو هم د دې کتاب په ص ۴۷ د حموراېي زمانه نزدې و ۲۱۰۰ ق م ته ښيي. دلته دا یادګیرنه مناسب ګنم چې لکه ښاغلي جمیل احمد صاحب حضرت ابراهیمؑ د امرافیل همعصر ګڼلے دے نو د پولانو په ترجمه کړلي تالمود (ص ۳۵) کښې د حضرت ابراهیمؑ په ذکر کښې راځي چې "او د نمرود نوکرانو هغه امرافیل بللو." یعني نمرود ته بۀ ئې نوکرانو امرافیل وئیل.

له دیو بیانونو ښکاري چې د مؤرخانو د تحقیق له رویه د حضرت ابراهیم علیه السلام زمانه د حضرت عیسیٰ علیه السلام نه قریباً دوه زره کاله وړومبی وه. او مونږ ولیدل چې د بائبل د بیان له رویه د حضرت نوحؑ د ژوند وروستي او د حضرت ابراهیم علیه السلام د عمر وړومبي شپیتۀ کاله مشترک وو. بلکې تالمود کښې راځي چې حضرت ابراهیمؑ د خپل عمر مبارک وړومبي پنځوس کاله خپل اتالیق نوحؑ سره تیر کړي وو او له هغه پسه ئې خپل پلار او

قام طـرف تـه د کـفـر او شـرک نـه ئـې د ژغـورلو دپاره د وعظ او نصیحت په غرض رجوع وکړو. (ص د ۳) نو دلته دا خبرې د غور قابلې دي:

(الف) په طوفان کښې هغه وخت آباده دنیا بې د کشتۍ د عالمو ډوبه شوې وه.

(ب) د حضرت ابراهیم علیه السلام د ظهور نه ړور نه وړومبے سمیري (یا سامریان) آسیري، عاد، ثمود او قدیم مصري تهذیبونو او تمدنونو خپل خپل دور تیر کړے وۀ او د کلدانیانو په اور (اور کلدانین) کښې د آنجناب علیه السلام بعثت شوے وۀ.

(ج) د حضرت نوحؑ کل عمر د بائبل له رویه ۹۵۰ کاله وۀ او د طوفان نه پس ۳۵۰ کاله حیات وۀ. (پیدائش ۹: ۲۸، ۲۹)

(د) نو آیا د کلدانیانو نه وړومبے د یادو شو تهذیبونو او تمدنونو د عروج او زوال زمانو او د کلدانیانو د ظهور او عروج زمانې (کۀ دا تهذیبونه له طوفانه وروستو وو او یقیناً ترې پسته وو) صرف د درې نیمو سوؤ کالو بلکې (کۀ د حضرت نوحؑ د عمر وروستيٰ او د حضرت ابراهیمؑ د عمر وړومبي شپیتۀ کاله ترې وباسو) د لس کم دریو سوؤ کالو موده اخستې وه؟ حال دا چې ایچ جي ویلز لیکي چې شپږ یا اووۀ زره کاله قبل مسیح کښې نیمې، مهذبې ډلې د ایشیا او د نیل د وادۍ په تاندو تپو کښې بنکاره کیدل شروع شوے وے او بیا د دجلې او فرات په دوآبه کښې د سمیریانو د تهذیب د آغاز ذکر کوي. (د نړۍ کوچنے تاریخ ص ۲۷) او بیا د راللونکې باب په وړومبي مخ ۱۷ لیکي دا یوازې په میسوپوټیمیا (د دجلې او فرات دوآبه) او د نیل په وادۍ کښې نۀ وو چې د ۶۰۰۰ او ۳۰۰۰ قبل مسیح تر مینځه وګړے په کر کیله او د ښاریو د ریاستونو په جوړولو مشغول شو.

(هـ) لکه چې د حضرت ابراهیم علیه السلام ذکر په بائبل او تالمود کښې راغې نو ترې ظاهره ده چې د هغوي د ولادت باسعادت نه وړومبے د هغوي قام او وطنیان په کفر او شرک کښې مبتلا وو. د هغوي دعهد نه وړاندې او د جناب نوحؑ د زمانې نه وروستو دوه قومونه عاد او وربسې ثمود په کفر او شرک اخته شوي وو او د خدائے تعالیٰ دوه پیغمبران حضرت هودؑ او حضرت صالحؑ په ترتیب پرله پسې د دغو قومونو د تنبیه او هدایت دپاره وراستولي شوي وو. دا قومونه د نافرمانۍ له کبله په عذاب ګرفتار او تباه شوي وو. نو ګویا د حضرت ابراهیمؑ نه ډیر وړاندې او د طوفان نه څۀ موده پس هغه فساد بیا څرګند شوے وۀ چې د سزا په طور ئې طوفان راغلے وۀ. نو کۀ نوح علیه السلام د فساد په دغو زمانو کښې موجود وۀ نو څۀ کردار ئې وۀ؟ د ثمود علاقه حجر د حجاز په شمال او شام په جنوب کښې او د عاد علاقه احقاف د حجاز په جنوب کښې وه خو د کلدانیانو د وطن په خواوشا کښې خو نوح علیه السلام میشته

وهٔ او د یهود او نصارئ ؤ د مذهبي لټریچر له رویه نهٔ صرف د حضرت نوحؑ د عمر وروستي او د حضـرت ابـراهیـمؑ د عـمـر وړومبي شپیتهٔ کاله مشترک وو بلکې د تالمود له رویه حضرت ابـراهیـمؑ ډیـره مـوده حضرت نوحؑ سره وهٔ. نو بائبل خو موږ ته یو خوا دغه وائي چې د خدائے تـعالیٰ دپاره حضرت نوحؑ قربان ګاه جوړ کړے وهٔ او بیا راته وائي چې د انګورو باغ ئې لګولے وهٔ. (خـاکـم بـدهن) شراب به ئې څښل. نشه کښې به بربنډ پروت وهٔ او چې حام په دغه حال کښـې ولیـد نـو د هـغـهٔ دغـه حـرکـت پـه وجـه ئـې د هـغـهٔ د زوي کنعان کهول ملعون کړو.
(استغفر الله والعیاذ بالله)

۲. حضرت بي بي ساره رضي الله تعالیٰ عنها.

د حضـرت ابراهیم خلیل الله علیه السـلام مشر حرم محترم دے. د خواجه نعمت الله د کتـاب پښتـو تـرجمه کښې ونیلي شوي دي چې د نمرود لور وه. او څښي مؤرخان وائي چې د هـغهٔ نه د بل چا لور وه. په فارسي نسخو (ن ز او ن ح دواړو) کښې "ساره بنت نمرود" (ساره د نـمرود لور) راغلي دي او بیا وریسې په دواړو نسخو کښې کښلي دي چې "وبعضي از مؤرخان و ارباب سیر آورده اند که ساره دختر عم حضرت خلیل بود" یعني "څنو مؤرخانو او ارباب سیر راوړي دي چې ساره د حضـرت خلیلؑ د ترهٔ لور وه." او په ن ح کښې چې کوم څائے (ص ۱۷) "ساره بنت نمرود" کښلـي دي فاضل محشي هورې د "بانکي پور خدابخش" د نسخې په حواله په حاشیه کښې "سـاره بنت هاران بنت نمرود" کښلي دي. کهٔ د بانکي پور د نسخې عبارت د ن ح په حاشیه کښې صـحیح نقل شوے وي نو مطلب دا شو چې د دې نسخې لیکونکي "هاران" ښځه ګڼلے ده او دغسې سارهؓ د نمرود د لور لور ده. د ویسټ منسټر د بائبل قاموس کښې د سارهؓ په باب د پیـدائش ۱۱: ۲۹، ۳۱ ۱۷: ۱۷ او ۲۰: ۱۲ په حوالو کښلي دي چې "د ابراهیمؑ ښځه چې تـرې لـس کـالـه کشـره او پـه اور کـلـدانین کښې ورواده شوې وه هغه د هغهٔ نیمه خور Half Sister هـم وه. د پـلار لـور ئـې وه خو د مور نه. یعني علاتي خور ئې وه. باید چې دلته د بائبل هغه محوله ځایونه هم رانقل کړو.

(الف) ۱۱: ۲۹-۳۱ او ابراهیمؑ او ناحور ځان ته ښځې وکړے د ابراهیمؑ د ښځې نامه سرے وه او د نـاحـور د ښځې نامه ملکا وه. د حاران لور، د ملک پلار او د اِسکه پلار. خو سرے شنډه وه هیـڅ بـچے ئـې نهٔ درلود. او تیراخ خپل زوے د ځان سره کړو او لوطؑ د حاران زوے، خپل نـمسے او سـرے خپـلـه نګور، د خپل زوي ابراهیمؑ ښځه او هغوي د هغو سره له اور کلدانینه ووتـل او د کنعان زمکې ته لاړل. او هغوي حران ته راغلل. او هورې میشته شول." ... ښځې نـامـه مـلـکا وه" نه پس د جملې ترجمه لکه چې اردو بائبل کښې ده به داسې وي. "... او هم

هغه د ملکه پلار او د اِسکه پلار وهٔ" (جوحاران کی بیٹی تھی وہی ملکہ کا باپ اور اس کا باپ تھا۔" ما د انګریزي ترجمې نه پښتو کښې لفظي ترجمه کړې ده.

(ب) ۱۷:۱۷ "بيا ابراهيم په مخ ولويد وې خندل او په خپل زړهٔ کښې ئې ووې چې د هغهٔ به هم زوے وشي چې د سلو کالو دے او سرے چې د نوي کالو ده به زووي."

(ج) د قاموس په پورتنو يادو شوو حوالو کښې اخري حواله ۲۰:۱۲ ده خو د بهترې پوهيدنې دپاره بايد چې ورومبے ترې ۲۰:۲ نقل شي. "او ابراهيم د خپلې ښځې سرے په حقله ووې هغه زما خور ده او د جرار بادشاه ابي سيليک (سرې) ولېږل او سرے ئې ونيوه" او ۲۰:۱۲ "او هغه خو رښتيا زما خور ده. هغه زما د پلار لور ده او زما د مور نهٔ ده. او هغه زما ښځه جوړه شوه. She became my wife

دلته دا خبرې د غور قابلې دي (۱) د حاران (يا هاران) نوم دغو سړو ذکر په زړه عهدنامه کښې راځي. يو حاران د تارخ زوے يعنې د حضرت ابراهيم ورور (پيدائش ۱۱ ۲۹ دويم د کالب زوے عيفې نه. (۱ تاريخ ۲: ۴۶) او دريم د حضرت داؤدؑ او حضرت سليمانؑ يو جرسوني بني لاوي معاصر (۱ تاريخ ۲۳:۹) بله نامه حاران يا حرّان د ښار راغلے ده چې مشهور او تاريخي ځائے دے. هم دغه ورومبے حاران يعنې د حضرت ابراهيم عليه السلام ورور د ملکه، اِسکه او حضرت لوط عليه السلام پلار ياد شوے دے (قاموس) (۲) ناحور يو د تارخ پلار يعنې د حضرت ابراهيمؑ نيکهٔ او بل د تارخ زوے د حضرت ابراهيمؑ ورور او هم دغه ناحور د بائبل د بيان له رويه د خپل ورور حاران لور ملکه او اِسکه سره وادهٔ وکړ. (قاموس او پيدائش ۱۱: ۲۲-۲۱) اګر کهٔ لکه چې پورته نقل شول حضرت ابراهيمؑ د بائبل د بيان له رويه وائي چې سرے زما د پلار لور ده ليکن پيدائش کښې د تارخ د اولاد په ذکر کښې د سرے نوم نهٔ راځي. (۱۱:۲۷) او تالمود (د پولانو ترجمه ص ۳۷) وائي "او په ديو کلونو کښې حاران د تيراخ زوي د ابراهيم مشر ورور وادهٔ وکړو او د هغهٔ ښځې زوے راوړ چې ئې لوط ونوملو هغې ترې دوه لونړه هم راوړې چې هغهٔ له هغو يوه ملکا او بله سرے ونومله. د سرے د زيږون په وخت ابراهيم د دوؤ ځلويښتو کالو وهٔ او بيا (ص ۴۲) ناحور او ابراهيم ځان ته ښځې وکړے. د ناحور د ښځې نامه ملکه وه او د ابراهيم د ښځې نامه سرے يا يسکه هغه دواړه د هغوي د خاوندانو لونړه وے." د بائبل د بيان له رويه چې حضرت ابرهيم خليل الله عليه السلام د سلو کالو وو نو بي بي سارهؓ د نوي کالو وه. د آنجناب عليه السلام نه لس کاله کشره وه. د تالمود د بيان له رويه دوه ځلويښت کاله. په بائبل کښې اګر کهٔ د تارخ په اولاد کښې د سرے نوم نشته. هغوي د حضرت ابراهيم علاتي خور وه. د تالمود د بيان له رويه د

حاران لور او د حضرت ابراهيم وريرې وې او په بائبل کښې چې اسکا د ملکه نه علاوه د حاران بله لور ياده شوې ده. هغه ابسکا يا يسکا او سرې ساره يوه سړې ګڼلې شوې دي. د تالمود د بيان له رويه حاران د حضرت ابراهيم مشر وروړ وه او په پيدائش ۱۱:۲۷ کښې د تارخ اولاد په دغه ترتيب راغلي دې. ابراهيم، ناحور، حاران. د بائبل د ويسټ منسټر قاموس مؤلف په شک کښې ښکاري چې حضرت بي بي سارهؓ د حضرت ابراهيمؑ خور وګڼي که وريره خکه چې د ساره د نوم په بيان کښې خو وائي چې د حضرت ابراهيمؑ علاتي خور وه او د اسکه د نوم په بيان کښې وائي چې د حاران لور او د ملکه او لوط خور وه. او بيا د جوزفس او ترګوم په حواله وائي چې اسکه د سرې بل نوم ګڼلې شوې دې خو په هغه حالت کښې به د ابراهيم خور نه بلکې وريره وي.

مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۱ ص ۱۸۱) فرمائي چې د ابن کثير او د نورو مؤرخانو د تحقيق له رويه حضرت بي بي سارهؓ د حضرت ابراهيمؑ د تره حاران لور وه. طبري ليکي چې بي بي سارهؓ د حضرت ابراهيمؑ د تره "هاران اکبر" لور وه او وربسې ليکي چې ځنې خلق وائي چې د حران د بادشاه لور وه. (اردو ترجمه ص ۲۰۷)

اګر که بائبل کښې د حضرت ابراهيمؑ د نيکه ناحور کوم زوې د حاران په نامه نه دې ياد شوې او ايکي يو زوې تارح ئې په نامه ياد کړلې شوې دې خو دا هم ورسره وئيلي شوي دي چې نور زامن لونه ئې هم وو. (پيدائش ۱۱:۲۵)

په هر حال د پورتنو التباسونو او حوالو نه د بائبل د تاريخي حيثيت مشتبه او مشکوک او غير معتبر کيدل ظاهر دي.

تر څو چې د ابراهيم عليه السلام او د حضرت بي بي سارهؓ رضي الله عنها د زوجيت نه د علاوه رشتې او زمونږ د اعتقادي ذوق تعلق دې نو اګر که په شريعتونو کښې وخت په وخت د سرور کائنات تر بعثته تبديلي کيدې او د شريعت محمديه ﷺ د سابقو شريعتونو مولق او ناسخ هم دې. خو نکاح يوه معاشرتي او اخلاقي وظيفه ده او اسلام کښې ورته دومره اهميت ورکړې شوې دې چې حضرت رسالت مآب ﷺ فرمائيلي دي چې "النكاح سنتى فمن رغب عنى فليس منى" يعنې "نکاح زما سنت دي او چې څوک له ما واؤښت له ما نه دې." او هر کله چې د حضرت سرور کائنات ﷺ په خلق عظيم او د حضرت ابراهيم عليه السلام په وچت کردار، دواړو کښې د امت مرحومه چې ملت ابراهيميه دې دپاره اسوهٔ حسنه ده نو بايد چې زمونږ اعتقادي ذوق هيڅکله دا خبره قبوله نهٔ کړي چې حضرت ابراهيمؑ به چرې داسې نکاح کړې وي چې د امت محمديه ﷺ يا ملت ابراهيميه دپاره به ممنوعه

وي. د حضرت بي بي سارېؓ نه د حضرت ابراهيم کشر زوی حضرت اسحقؑ پيدا شول چې د بني اسرائيل نيکهٔ دی.

(۳) حضرت بي بي هاجره رضي الله تعالىٰ عنها

د حضرت ابرهيم خليل الله عليه الصلوٰة والسلام د دويمې بي بي مکرمې اسم مبارک هاجرهؓ وهٔ. په بائبل کښې د دوي له نسه د حضرت ابراهيمؑ اولاد سره د رقابت او کينې له قبله چې يهودو کوم تصرف او تحريف کړی دی د هغهٔ له رويه د دوي حيثيت صرف د يوې وينځې بنکاري. متصرفانو او محرفانو د يوهٔ داسې تاثر پيدا کولو کوشش کړی دی چې هاجرهؓ يوه وينځه د مصر بادشاه حضرت بي بي سارې او حضرت ابراهيمؑ ته بخښلې وه. خو حقيقت دا دی لکه چې مولانا سيد سليمان ندوي مرحوم (ارض القرآن جلد ۲ ص ۴۰، ۴۱) او مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۱ ص ۱۸۸-۱۹۰) او د تاريخ ابن خلدون په اردو ترجمه او تحشي کونکي حکيم مولوي احمد حسين صاحب جلد ۱ ص ۷۱-۷۳) وضاحت کړی دی او د خپلو تقريرونو په مرسته کښې ئې د تورېت د يوهٔ مفسر ربي شلوملو اسحق قول هم راوړی دی. حضرت بي بي هاجرهؓ د مصر د بادشاه لور وه او هغه حضرت بي بي سارهؓ ته په طور د حضرت ابراهيم د مشرې بي بي خپله لور د خدمت دپاره ورکړه او لکه چې ربي شلوملو اسحق وائي د پيشکش په وخت ئې ووئيل چې د دوي (يعني حضرت سارهؓ بي بي) په کور کښې په حيثيت د وينځې پاتې کيدل په بل کور کښې د ملکې په طور وسيدلو نه زيات ښهٔ دي. او په بخاري شريف کښې هم د حضرت ابوهريرهؓ په روايت راغلي دي چې "اخدمها هاجره" يعني حضرت بي بي هاجرهؓ ئې حضرت بي بي سارهؓ ته وسپارله چې د دوي خدمت کوي. نو معلومه شوه چې حضرت بي بي هاجرهؓ په عامو معنو هيڅ کله وينځه نهٔ وه. بلکې يو عظيم المرتبت او جليل القدر نبي حضرت ابراهيم خليل الله عليه الصلوٰت والسلام د سعادت مندې کشرې بي بي په حيثيت د آنجناب عليه الصلوٰة والسلام د مشرې بي بي خدمتګارې وه.

په دې ضمن کښې د زړې عهدنامې بيان (پيدائش ۲۱: ۹، ۱۰) هم قابل غور دی چې له رويه ئې حضرت بي بي سارهؓ حضرت ابراهيمؑ ته عرض کوي چې حضرت بي بي هاجرهؓ او له هغوي د حضرت ابراهيمؑ زوی له کوره وباسي. او ورته وائي چې د دې وينځې زوی به زما زوي سره وارث نهٔ وي. نو کهٔ د حضرت بي بي سارهؓ دغه بنزی په عامو معنو د وينځې زوی وهٔ نو لکه چې حکيم احمد حسين صاحب وائي د هغه وخت د شريعت له رويه د وينځې اولاد په ميراث کښې حقدار نهٔ وهٔ او د حضرت بي بي سارې د بيانې شوی خطرې دپاره يعني هسې

نه چې د هغوي بنزے د هغوي زوي سره ميراث واخلي هيڅ خائے نۀ وۀ. په حضرت خليل الله عليه السلام چې کوم امتحانونه راغلي وو په هغو کښې د حضرت بي بي هاجرې د تسليم او رضا شان هم ډير وچت دے. د الله تعاليٰ د حکم په تعميل کښې خپل لخت جگر حضرت اسماعيلؑ سره په يوۀ غير آباد او ويران بيابان کښې چې نۀ پکښې چرې د بنيادم نخښه نښانه او نـۀ د خوراک څښاک درک وۀ استوگـه قبلول د دوي د شخصيت د عظمت او لوړے روحانيت دليل دے.

(۴) حضرت بي بي قطوره رضي الله عنها.

د حضرت ابراهيم خليل الله د دريمې بي بي محترمې مبارک نوم په بائبل کښې قطوره ياد شوے دے. (پيدائش ۲۵:۱)

(۵) د حضرت ابراهيمؑ اولاد :

(الف) حضرت اسماعيل ذبيح الله : لکه چې د دې نوټ په ابتدائي برخه او بيا لږ وړاندې د حضرت بي بي هاجرې په حال کښې ووئيل شول د بي بي صاحبې موصوفې د مبارک او مطهر بطن نه الله جل شانه و حضرت ابراهيمؑ ته حضرت اسماعيلؑ کرامت کړل. چې دوي هم الله تعاليٰ په مقرره وخت د نبوت په خلعت عصمت ونمانځل. او د حضرت ابراهيم عليه السلام په اولاد کښې هم دوي مبارکو ته د سيد البشر او خير خلائق د نبيانو او مرسلانو د سردار حضرت محمد مصطفيٰ ﷺ د جد امجد کيدو فخر حاصل دے. حضرت اسماعيلؑ د حضرت ابراهيمؑ مشر فرزند وۀ د دوي د ولادت باسعادت په وخت د حضرت ابراهيمؑ عمر شريف د بائبل له رويه ۸۶ کاله وۀ. (پيدائش ۱۶:۱۵،۱۶) د حضرت اسماعيلؑ وصال لکه چې په بائبل کښې راغلي دي د ۱۳۷ کالو په عمر شوے وۀ. (پيدائش ۲۵:۱۷) بنو اسماعيل يا عرب مستعربه د آنجناب عليه السلام اولاد دي.

(ب) حضرت اسحٰق عليه السلام د حضرت ابراهيم عليه السلام دويم فرزند دے چې الله جل شانه ورته د حضرت بي بي سارې له مبارکه بطنه عطا کړل. لکه چې د بي بي صاحبې په حقله ليکلي شوي نوټ کښې د پيدائش ۱۷:۱۷ په حواله ووئيل شول چې د حضرت اسحٰقؑ د ولادت باسعادت په وخت د جناب خليلؑ عمر شريف سل او د بي بي سارې نوي کاله وۀ. دغسې حضرت اسحٰقؑ د خپل مشر وررور حضرت اسماعيلؑ نه ۱۳، ۱۴ کاله کشر وۀ خو د ن ح محشي د تاريخ طبري په حواله ليکي چې حضرت اسماعيلؑ د حضرت اسحٰقؑ نه پينځۀ کاله مشر وۀ. (جلد ۱ ص ۱۸ حاشيه ۴) حضرت اسحٰقؑ هم الله تعاليٰ په مقرره وخت د نبوت په منصب جليله فائز کړل. د دوي د نسل نه الله تعاليٰ گڼ انبيا پيدا کړل. دوي د بني اسرائيل

چې د دوي فرزند حضرت يعقوب عليه السلام ته منسوب دي جد امجد دي. د خواجه نعمت الله دا بيان چې د حضرت اسحق بي بي له بني عمالقه وه (چون اسحٰق به سن رشد رسید از گروه بنی عمالقه مبیه خواستگاری نمود) او چې اساس ئې معلوم نهٔ دے. د بائبل بيان سره سمون نهٔ خوري. (د ن ح فاضل محشي د "خواستگاري نمود" نه پس د دوؤ نورو نسخو په بنا (رفقا نام دختر بتويل) الفاظ ورسره زيات كړي او د روضة الصفا په بنا ئې پوې حاشيه داسې ليکلې ده. " ابراهيم.... و رفقا دخترهم خويش را بحباله نكاح در آورده عيص و يعقوب عليه السلام بيک بطن ازو متولد شدند" او هم په دې حاشيه کښې ئې د تاريخ طبري په حواله "رفقا بنت تبويل بن الياس" الفاظ زيات کړي دي.)

د بائبل د بيان له رويه د حضرت اسحٰقؑ د بي بي محترمې نوم ربقه وهٔ. او د بتويل بن ناحور يعنې د حضرت ابراهيمؑ د ورارهٔ لور وه. (پيدائش ۲۴: ۱، ۶۷) طبري لکه چې تاسو له ن ح رانقل کړے شوے حاشيه کښې وليدل د بتوئيل د پلار نامه الياس ليکلې ده. زما د وړاندې په اردو ترجمه کښې هم په ص ۲۶۴ دوه ځلې بتوئيل بن الياس راغلے دے. خو په ۲۶۲ بتوئيل د حضرت ابراهيمؑ د ورور ناحور زوے ليکلے شوے دے. او هم په دې صفحه ليکلي دي چې د بتوئيل يو زوے لابان او يوه لور رفقا وه چې حضرت اسحٰقؑ (د کتابت د غلطۍ په وجه حضرت ابراهيمؑ ليکلے شوے دے) ورسره نکاح کړې وه. د حضرت اسحٰقؑ د بي بي له بني عمالقه ؤ کيدل له دې قبله هم له بحثه خارج دي چې د بائبل د بيان له رويه عمالقه د حضرت اسحٰقؑ د زوي عيص يا عيسو د زوي الفز د زوي عماليق له نسله دي. دغسې حضرت اسحٰقؑ د بني اسرائيل نه علاوه د بني عماليق يا عمالقه ؤ هم نيکهٔ وهٔ د آنجناب وصال د ۱۴۰ کالو په عمر کښې شوے وهٔ (پيدائش ۳۵:۲۸)

(ج) د حضرت ابراهيمؑ نور اولاد:

د بائبل د بيان له رويه د حضرت اسماعيلؑ او د حضرت اسحٰق عليهما السلام نه علاوه جناب خليل الله عليه السلام ته الله جل شانه چې کوم نور زامن بخښلي وو هغه له حضرت بي بي قطورهٔؓ وو چې نامې ئې دا دي: (۱) زمران (۲) يقسان (۳) مدان (۴) مديان (۵) اسباق (۶) سواخ (پيدائش ۲۵: ۱، ۲) د دوي اولاد په بني قطوره مشهور دے. اهل مدين هم له دوي څخه وو. چې حضرت شعيب عليه السلام پکښې مبعوث شوي وو. لکه چې ارشاد باري دے "وَ اِلٰی مَدْیَنَ اَخَاهُمْ شُعَیْبًا" الخ (قرآن حکيم ۱۱: ۸۴)

(۶) ذبيح :

لکه د دې نوټ په ابتدائي برخه کښې وئيلي شوي دي ذبيح د حضرت ابراهيم عليه الصلوٰة والسلام مشر فرزند حضرت اسماعيل عليه السلام وهٔ او هم دغه د جمهور اهل اسلام

عقیـده ده. پـه عکس د دې د یهودو او نصارئ ؤ عقیده دا ده چې حضرت اسحٰق علیه السلام ذبیح وۀ او یوه لیږه ګنه د مسلمانانو عالمانو چې مشهور او لوے مؤرخ او مفکر ابن خلدون هم پـکښـې شـامل دے هم په دې غلطۍ کښې ښتې ده اګر کۀ دا خبره چې د حضرت ابراهیمؑ په دغـو دواړو ستـر شانو فرزندانو کښې کوم یو ذبیح وۀ زمونږ په نزد له ایمانیانو خنې نۀ ده البته په دې بـاره کښـې د بـائبـل بیـان چـې د یهودو او نصارئ ؤ د عقیدې اساس دے خیرل له دلچسپۍ خالي نۀ دې. چې څنګه پخپله په خپل تضاد او تحریف ګواهي لې متعلقه ځایونه دا دي:

(الف) د هـغـو خبرو نه پـس داسې وشول چې خدائے ابراهیمؑ وازمائیلو او ورته ئې ووې چې په ابـراهیـمـۀ هـغـۀ ووې چـې ګـوره زۀ حـاضر یم. هالۀ هغۀ ووې چې تۀ خپل زوے اکي یو زوے اسـحٰـق چې تۀ ېرې مینن لې د ځان سره کړه او د موریا زمکې ته لاړ شه او هلته له غرونو خنې په یوۀ غرۀ چې زۀ به ئې در وښیم د سوو قرباني وکړه. (پیدائش ۲۲: ۱،۲)

(ب) هالۀ د رب فرښتې دوباره له اسمانه ابراهیمؑ ته غږ وکړ او وې وئیل چې رب فرمائي چې د ځان قسم کوم چې هر کله تا داسې کار وکړو او خپل زوے ایکي یو زوے دې ونۀ ژغورلو زۀ به درله برکت په برکت درکوم او نسل به دې له زیاته زیاتوم. الخ. (ایضاً ۱۵: ۱۷)

اوس نـو کۀ په وړومبي عبارت کښې د حضرت اسحٰقؑ اسم شریف (۲۲: ۲) نۀ وے نو د بـحـث هـلـو څـۀ ګـنـجـائـش نـۀ پـاتې کیدلو او د قرباني کیدونکي نه به مراد هم د حضرت اسمـاعیـلؑ ذات بـابـرکـات ګنل کیدلو ځکه چې د حضرت ابراهیم اکي یوازے زوے خو هم هـغوي وو. حضرت اسحٰقؑ ته خو به صرف هغه وخت اکي یوازے زوے وئیل کیدل شول چې کـۀ چـرې حـضـرت اسـمـاعیـلؑ د خپل والد ماجد په ژوند وفات شوے وے او د قرباني حکم حـضرت ابرهیم علیه الصلوٰة والسلام ته څۀ وخت د هغوي د نور اولاد د کیدو نه اګاهو شوے وے خـو د بـائبـل د خپـل بیـان له رویه د حضرت ابراهیمؑ وصال د ۱۷۵ کالونو د عمر شریف شـوے وۀ. (پیدائش ۲۵: ۷) نو ظاهره ده چې دا وخت حضرت اسماعیلؑ چې د جناب خلیل د عـمـر مبارک په شپږ اتیایم کال زیږیدلي وو د ۸۹ کالو په عمر (۱۴+ ۷۵) حیات او د عمر مبـارک ئـې ۴۸ کـالـه (۸۹+۱۳۷) لا پاتې وو. او حضرت اسحٰقؑ د خپل والد ماجدؑ د عمر مبـارک په سلم کال زیږیدلي وو او د هغوي د وفات په وخت د ۷۵ کالو په عمر حیات وو او د عـمـر مبـارک ئـې ۱۰۵ (۷۵+ ۱۸۰) کـاله لا پاتې وو. علاوه له دې په مخ صفا وضاحت شـوے دے چـې حضرت اسماعیلؑ او حضرت اسحٰقؑ (وړومبے ئې د حضرت اسحٰقؑ نوم لیکلے دے) دواړو د میکفیله په غار کښې وسپارل. (۲۵: ۹)

پـه تـالـمود کښې تحریف پل شان شوے دے د اکي یو صفت له زویه لرې کړل شوے

او صرف ورسره د محبت ذکر دے. "خپل زوے چې ته يې مينه کوې د ځان سره کړه او د سوؤ د قربانۍ په طور ئې له غرونو په يوۀ چې به لې در وښيم قربان کړه." او بيا د حضرت اسحٰقؑ د قرباني کيدو تفصيل دے. (ص ۵۴ـ۵۷ د پولانو ترجمه) په دې بيان کښې وروستو د اکې يو زوے نسبت په ځائے د حضرت ابراهيمؑ حضرت بي بي سارهؓ ته کيږي. (ص ۵۵)

اوس نو ربيان او پادريان صاحبان په بائبل کښې د اکې يو زوې به څۀ توجيه او تاويل کوي؟ هم دغه کنه چې هر کله هم حضرت اسحٰق عليه السلام د حضرت ابراهيم عليه الصلوٰة والسلام خوښ وۀ نو دې دپاره ورته د جناب خليلؑ اکې يو زوے وئيلې شوې دې. د دې تاويل خواب خو پخپله د بائبل په متعلقه عبارت او د بائبل او تالمود په اختلاف کښې موجود دے. په ۲۲ : ۲ کښې کۀ د "اکې يو" نه مراد "خوښ" او "محبوب" يا "گران" وې نو هر کله چې دا ئې ورته ووې چې whom thou lovest يعنې "چا سره چې ته مينه کوے" يا "چې په تا گران دے" نو د "اکې يو" د وينا څۀ ضرورت وۀ. بائبل کښې خو په حکم کښې د "اسحٰق" نوم اضافه شوې ده خو تالمود کښې چې کوم ځائے د قربانۍ حکم ورکيږي د حضرت اسحٰقؑ د نوم ذکر نشته او حضرت ابراهيمؑ ئې پخپله اسحٰقؑ گڼې. د تالمود (د پولانو د ترجمې ص ۵۴، ۵۵) الفاظ دا دي:

"اوس خپل زوے چا سره (يا کوم يوۀ سره) چې ته مينه کوے واخله او له غرونو په يوۀ چې در وۀ به ئې ښيم د سوو د قربانۍ په طور ئې پيشکشي وکړه. چې ابراهيمؑ ته دغه حکم وشۀ نو په هغو غمونو او نولونو کښې... چې زړۀ ئې ورله زورلو لوے د اسحٰقؑ له موره د بيلولو ضرورت وۀ" الخ. او د "اکې يو" صفت چې د قربانۍ د حکم له الفاظو لرې کړل شوے دے د بي بي سارېؓ په الفاظو کښې داسې راځي. "آه زما بچے، زما بچے زۀ تا څنګه پريږدم چې له ما لاړ شے زما اکې يو بچيه زما وياړه زما اميده. الخ" (ص ۵۵)

حقيقت دا دے چې دواړه گرامي فرزندان نۀ صرف په تقاضا د طبيعت د خپل عظيم الشان پلارؑ محبوب او پرې گران وو بلکې د هغۀ مبارک د مينې او محبت اهل او قابل هم. ربيان او پادريان صاحبان دې د بائبل او تالمود د لانديني بيانونو په رڼا کښې پخپله انصاف وکړي. د حضرت بي بي هاجرېؓ او حضرت اسماعيلؑ د کوره د ويستلے کيدو بيان په بائبل کښې د حضرت اسحٰقؑ له ئې د خلاصيدو په موقع د کړې شوې دعوت په ضمن کښې داسې راځي:

"او سارېؓ د هاجرېؓ مصرى زوے چې هغې له ابراهيمؑ راوړے وۀ وليد چې خندا کوې نو له دې قبله هغې ابراهيمؑ ته ووې چې دغه وينځه او زوے ئې وباسه ځکه چې د دې

وينځې زوے دې زما زوي اسحٰقؑ سره وارث نۀ وي. او دغه خبره د خپل زوي په حقله د ابراهيمؑ تر نظره ډيره بده راغله. او خدائے ابراهيمؑ ته ووې چې دا دې ستا تر نظره د هلک دپاره بده نۀ وي او د ستا د وينځې دپاره. په هره خبره کښې چې سارهؓ ئې درته کوي ورتا ئې اوره ځکه چې ستا نسل به په اسحٰق بللے شي. او د دې وينځې د زوي نه هم يو قوم پيدا کوم دې دپاره چې هغه ستا نسل دے. (پيدائش ۲۱: ۹-۱۳) د اردو ترجمې اخري الفاظ دي "چې هغه هم ستا نسل دے.

او چې حضرت ابراهيم خپل د حرم محترم حضرت هاجرهؓ او فرزند ارجمند حضرت اسماعيلؑ د بائبل د بيان له رويه د بير سبع په بيابان کښې پريږدي او حضرت بي بي هاجرهؓ په بارګاه الٰهي کښې په ژړا عرض وکړي نو داسې بيان کيږي:

"او خدائے د هلک اواز واوريد او د خدائے فرښتې له اسمانه هاجرېؓ ته غږ وکړ او ورته ئې ووې چې څۀ دې رنځورې هاجرېؓ؟ What aileth the Hagar?(خو اردو ترجمه داسې ده "اے ہاجرہ تجھ کو کیا ہوا؟" يعنې "اے هاجرې په تا څۀ وشو؟" مۀ ويريږه چې د هلک اواز چې کوم ځائے هغه دے هم هورې خدائے واوريد. پاسه او هلک پاسوه او په خپل لاس کښې ئې ونيسه. ولې چې له هغۀ به يو لوے قوم جوړوم. او خدائے د هغې سترګې پرانستے او هغې د اوبو يو کوهے وليدو هغه ورغله او له اوبو ئې مشک ډک کړو. او هلک ته ئې څښناک ورکړو. and gave the lad drink (اردو ترجمه "اور لڑکے کو پلایا" يعنې او په هلک ئې اوبۀ وڅښولے (دا ترجمه غوره ده خو زما دا زيار دے چې تر وسه له انګريزی لفظي ترجمه وکړم) او خدائے د هلک سره وۀ او هغه لوے شۀ او په بيابان کښې وسيدو او لينده ويشتونکے شو او هغه د فاران په بيابان کښې وسيدۀ او د هغۀ مور د مصر له زمکې هغۀ لره ارتينه وکړه. (۲۱:۱۷،۲۱)

او چې حضرت ابراهيمؑ د حضرت اسحٰقؑ د ولادت باسعادت بشارت بيامومي نو عرض کوي:

"او ابراهيمؑ خدائے ته عرض وکړو چې کشکے اسماعيلؑ ستا په حضور کښې ژوي. او خدائے ووې چې ستا بي بي سارهؓ به ضرور درله زوے راوړي او د هغۀ نامه به اسحٰقؑ پردے او زۀ به هغۀ سره خپل عهد، دائمي عهد قائموم. او پس له هغه د هغۀ د اولاده سره او اسماعيلؑ نو د هغۀ په حقله ما ستا دعا واوريده ما هغه برکتي کړو او بار ورکوم به ئې او زښت ډير به ئې زياتوم. او ترې به دولس سرداران پيدا کيږي خو زۀ به له اسحٰقؑ سره چې بل کال به ئې ساره په دې مقرر وخت زووي خپل عهد پوره کوم. او چې ابراهيمؑ سره ئې خبرې وکړے نو ترې

بره لاړ." (۱۷: ۱۸، ۲۲)

تالمود د حضرت بي بي هاجرې او حضرت اسماعيلؑ له کوره د شړلے کيدو وجه دا بيانوي چې يو ځل چې اسحقؑ د ښېنځو کالو وۀ اسماعيلؑ هغه ماشوم خپل غشي ته نخښه کړو او ورته ئې ځغنه کړه چې اوس دې زۀ وولم ساري دا عمل وليد او د خپل زوي په حقله وويريده او چې د خپلې ويښخې ئې نۀ وۀ خوښ هغې ابراهيمؑ ته د دې هلک د حرکاتو په حقله ډير شکايتونه وکړۀ او وې نغوت چې هاجرۀ او اسماعيلؑ له خپلې خيمې وباسي او چرته بل ځائے ته ئې وليږي." (ص ۵۲)

او "او پس له ډيرو کلونو داسې وشول چې ابراهيمؑ هغه خواهش چې پرې هميشه حاوي پاتې وۀ په دې اراده مجبور کړو چې زوي لره لاړ شي پس د ساري ئې د خپله نيته خبرولو پوازې په يوۀ اوښ روان شو."

"هغه خواوشا غرمه مال د اسماعيلؑ د استوګې ځائے ته ورسيدو او در ئې لۀ چې زوے ئې په ښکار له کوره لړې وۀ. هغۀ سره د اسماعيل ارتينې چې نۀ ئې پيژندو ستغ سلوک وکړو او ډوډی او اوبۀ چې ئې غوښتے وے ورله ئې له ورکړې انکار وکړو له دې قبله هغۀ هغې ته ووې چې څښتن دې راستون شي نو زما د راښکاره کيدو په حقله ورته داسې وينا وکړه. يو بوډا سړے د فلسطينيانو له زمکې ستا په غير حاضری کښې زمونږ ورۀ له راغلے وۀ او هغۀ راته ووې چې څښتن دې راستون شي نو ورته ووايه چې هغه ميخ دې چې په خيمه کښې ئې ټک وهلے دې لرې کړې چې په يوۀ بل بهتر ميخ بدل کړې. له دغو الفاظو سره په اوښ سور روان شو.

چې اسماعيلؑ کور ته راستون شو ارتينې ئې واقعه ورووئيله سړے ئې د هغۀ د الفاظو په تيرولو وروښئيلو او اسماعيلؑ معلومه کړه چې پلار ئې ورله ليدو له راغلے وۀ او د احترام نه په عکس سلوک ورسره شوے وۀ. په دې وجه اسماعيلؑ خپله ارتينه پريښوده او يوه جل ئې د کنعان له زمکې وکړه.

تقريباً درې کاله پس له دې واقعې ابراهيمؑ بيا د خپل زوي خيمې ته لاړ او بيا ئې هم زوے له کوره لرې وۀ خو ارتينه ئې خوش خويه او ميلمه دوسته وه او له نا اشنا سړيه چې نۀ ئې پيژندو خواست وکړو چې له اوښه راکوز شي او ورته ئې ډوډی او غوښه کښيښودل له دې قبله هغۀ ورته ووې کله چې دې څښتن راستون شي زما راښکاره کيدۀ ورتير کړه او ورته ووايه چې دا بوډا سړے تا لره د فلسطيانو له زمکې راغلے وۀ او تا لره ئې دا پيغام پريښود چې ميخ دې چې په خيمه کښې ټک وهلے دے ښۀ او موزون دے خو پام کوه چې مناسب قدر ئې

کېږي. او اسماعيلؑ او د هغهٔ دکور دپاره د برکت دعا سره ابراهيمؑ کور ته روان شو.

چې اسماعيلؑ راستون شو د خپل پلار د پيغام په اورېدو ډېر خوشحال شو او چې يوه ښه او قابله ارتينه ئې درله د خدائے شکر ئې وکړو. او پس له څهٔ وخته هغه او د هغهٔ خاندان د ابراهيمؑ ليدو ته لاړ او ډيرې ورځې ورسره د فلسطينيانو په زمکې وو." (۵۳، ۵۴).

د حضرت ابراهيمؑ د حضرت اسماعيلؑ سره د ملاقات دپاره د تللو او د هغوي د بېبيانو سره د سوال ځواب او د حضرت اسماعيلؑ دپاره هدايات پرېښودل دغسې خبرې د بخاري په يوهٔ اوږد حديث کښې هم راغلي دي چې مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم په قصص القرآن جلد ۱ (ص ۲۰۴ــ۲۰۶) کښې رانقل کړے دي خو مولانا سيد سليمان صاحب ندوي مرحوم دا حديث له اسرائيلياتو څنې او صحت ئې مشکوک ګڼلے دے. (ارض القرآن جلد ۲ ص ۴۳،۴۴)

دلته دا هم د غور قابله خبره ده چې د بائبل د بيان له رويه (پيدائش باب ۲۱) چې کوم وخت حضرت ابراهيمؑ حضرت هاجرهؓ او حضرت اسماعيلؑ له کوره ويستل نو حضرت اسحٰقؑ له تې خلاص شوي وو او د تالمود د وينا له رويه حضرت اسحٰقؑ د پينځو کالو وهٔ نو هر کله چې د بائبل د خپل بيان له رويه حضرت اسماعيلؑ د حضرت اسحٰقؑ نه څوارلس کاله مشر وو نو دغه وخت به هغوي ځلمے وهٔ خو کهٔ په ۲۲:۱۷ کښې دوه ځله د حضرت اسماعيلؑ دپاره د The lad (هلک) لفظ راغلے دے نو وړاندې ترې ورته دوه ځله The Child (ماشوم) وئيلي شوي دي او ۲۲:۱۵ وائي "او اوبهٔ په مشک کښې خلاصې شوے او هغې ماشوم له جاړو تر يوې لاندې واچوهٔ."

په هر کيف په تحريفاتو بې لهٔ څهٔ نور بحث کولو دومره وينا کول دلته کافي او ضروري ګڼو چې په توريت (کتاب پيدائش يا سفر تکوين) او په تالمود کښې چې د حضرت اسماعيلؑ په حقله د حضرت ابراهيمؑ د جذباتو او د هغوي د تعلقاتو په باره کښې باوجود د تحريفاتو او د دې کوشش چې په مقابله د حضرت اسحٰقؑ د حضرت اسماعيلؑ مقام کوز وښودلے شي کمه نقشه چې مونږ وينو او کوم بيان چې اورو له هغو جوتيږي چې حضرت اسماعيلؑ د پلار خوښ ځوے وهٔ. (معاذ الله دا نه چې حضرت اسحٰقؑ ئې نهٔ وهٔ خوښ) او سره د مخالفانه کوششونو هم په دغه نقشه او بيان کښې په بارګاه الٰهي کښې د حضرت اسماعيلؑ او د هغوي د والدې ماجدې قبوليت او قرب عيان دے. د حضرت ابراهيمؑ په بارګاه الٰهي کښې سوال کول چې "اسماعيل دې ستا په حضور کښې ژوندے وي" او بيا د بائبل مننه چې "خدائے د هلک سره وهٔ." او د خدائے د فرښتې حضرت هاجرې ته ندا او تسلي صرف د حضرت

اسماعیلؑ مادي او ظاهري ژوند او وسائل پوره کيدلو سره تعلق نۀ لري بلکې د آنجناب او د هغوي د والدې ماجدې چې دواړه د تسليم او رضا او صبر او شکر پيکر وو په روحاني او معنوي عظمت او جلالت شان دلالت کوي. په حقيقت کښې دغه له کوره وتل هم دغه شان د جناب خليلؑ له ازمائښته په کاميابی سره تيريدو کښې شرکت وۀ لکه د دې نه پس د ذبح د حکم په وخت او بيا د حضرت اسماعيلؑ لوے قام جوړيدل عبارت دي د انباط او قيدار د قبل اسلام عربي حکومتونو او رياستونو نه او کۀ د حضرت سرور کائنات محمد مصطفیٰ عليه الصلوٰة والسلام د حضرت ابراهيمؑ او حضرت هاجرې او حضرت اسماعيلؑ د عظيم المرتبت او جليل القدر فرزند د دين حق ملت ابراهيمي د ټولو نه لوے اخري او ابدي باني کيدلو نه چې د امت تاريخ ئې نۀ صرف د خلافت راشده، د عظيمو مملکتونو او سلطنتونو د لوے او سترو تمدنونو او تهذيبونو تاريخ دے بلکې هغه سلام او برکت چې الله پاک په ابراهيمؑ او آل ابراهيمؑ نازل کړے وۀ نو د هغۀ اعاده دا امت نۀ صرف پينځۀ وخته هره ورځ په نمونځ کښې کوي بلکې هر وخت او هر کله چې د حضرت ابراهيمؑ، حضرت اسماعيلؑ او حضرت اسحٰقؑ او د بل کوم نبي او رسول اسم مبارک واخستے شي نو لکه چې په سرور دو عالم صلوٰة او سلام وائي نو په دغو نورو مبارکو هم وائي. او د خليل عليه السلام د عظيمې قربانی يادگار هم د اسماعيلؑ د نمسي ﷺ په امت کښې تراوسه قائم دے او انشاء الله چې دا دنيا قائمه وي قائم به وي. نو دغه اسماعيلؑ د خليلؑ محبوب نۀ وۀ؟ (العياذ بالله)

لکه چې مونږ وړومبے ښئينه کړې ده د مسلمانانو علماؤ يو وړه ګنه هم په دې غلط فهمی کښې پريوتې ده چې ذبيح اسحٰقؑ وۀ نو بايد چې په دې موضوع د بحث په اخر کښې د قرآن حکيم ارشادات هم نقل کړو. د حضرت ابراهيمؑ په حقله فرمائيلے کيږي:

"وَ قَالَ اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ () رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ () فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ () فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّيْ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَا ذَا تَرٰى ؕ قَالَ يٰاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ز سَتَجِدُنِيْ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ () فَلَمَّا اَسْلَمَا وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ () وَ نَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰاِبْرٰهِيْمُ () قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ () اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ () وَ فَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ () وَ تَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ () سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ () كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ () اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ () وَ بَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ () وَ بٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَ عَلٰٓى اِسْحٰقَ ط وَ مِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ () (۳۷: ۹۹-۱۱۳)

ترجمه : او وې وئيل چې زۀ د خپل رب لورې ته تلونکے يم هغه به راته لار ښيي. يه زما ربه را ما لره اولاد لـه نيکانو څخه. نو مونږ هغۀ ته د يوۀ حليم زوي زيرے ورکړو نو چې ورسره د

تګ راتګ شـو نو وې وئيل ورته چې په بجوړېه زما، چې زۀ خوب کښې ګورم چې تا حلالوم نـو وګـوره څنګه درليدۀ شي. وې وئيل بابا جي وکړه چې ئې حکم درته شوے دے کۀ خدائے کـا مـا بـه لـه صـابـرانـو څـنې بيامومے. نو چې دواړو حکم ومنلو او واې چوۀ هغه د وچولي په لـوري نـو مـونـږ غـږ وکړو ورته چې يه ابراهيمؑ حقه ده چې تا ربښتينے کړ خوب يقينې ده چې مونږ هم دغسې جزا ورکوو نيکانو لره. تحقيق دا يو ښکاره ازميښت وۀ. او هغه وژغورۀ مونږ په بـدل د يوې لـويې قرباني او مونږ پريښوه دغه خبره ورپسې راتلونکو کښې چې سلام دې وې پـه ابـراهيـمؑ. هـم دغسې جـزا ورکوو مونږ نيکانو لره. تحقيق هغه زمونږ له مؤمنانو بندګانو څـنې وۀ. او مـونـږ هـغـۀ لـه زيـرے ورکړو د اسحٰقؑ نبي چې له صالحانو څنې وۀ او مونږ برکت ورکړو هغۀ او اسحٰقؑ لره او د هغو دواړو له اولاده ښۀ هم شته او ښکاره د ځان زيان کونکي هم.

د دغـو بيـنـو آيتونو له سياقه سباقه صفا ښکاريږي چې ذبيح حضرت اسماعيلؑ دے. په دغه لړ کښې دا خبرې تر پامه د ساتلو دي:

(الف) جناب خليلؑ د اولاد دپاره دعا کوي.

(ب) د يوۀ ډير پوست خويه او زغم دار او صبرناک (حليم) هلک زيرے ورکړل کيږي.

(ج) چـې هـلـک لـوے او پلار سره د کار روزګار دپاره د تګ راتګ شي نو پلار ته ئې حکم کيږي چې دغه زوے دې د خدائے د رضا دپاره قرباني کړه.

(د) لـکـه چـې د دغـه هـلـک صـفـت حليم بيان شوے دے نو د پلار په شان کښې ئې هم دغه فرمائيلي شوي دي "اِنَّ اِبۡرٰهِيۡمَ لَاَوَّاهٌ حَلِيۡمٌ" (سورۀ توبه ۹: ۱۱۴) او "اِنَّ اِبۡرٰهِيۡمَ لَحَلِيۡمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيۡبٌ" (هود ۱۱: ۷۵)

(هـ) دواړه پـلار زوے د صبـر او تسليم او رضا بې مثاله شان د خدائے تعالیٰ په فضل او توفيق ښـکاره کوي. دواړه ځانونه خدائے ته سپاري. پلار پخپله او د زوې په رضا او خوشي زوے د قـربـانـي دپـاره اچـوي خو وروستو له دې چې زوے ذبح کړي خدائے تعالیٰ ئې پيشکش قبول کړي.

(و) ورته د دې قرباني په بدل کښې د يوې لويې قرباني د قائمولو زيرے ورکوي.

(ز) او ورسره ئې په راتلونکو کښې په ابراهيمؑ سلام قائم کړو.

(ح) او ورلـه ئـې د بـل (زوي) اسـحٰقؑ چـې نبي او له صالحانو به وي زيرے هم ورکړو. او بل ځائے چې د دغه زيري نسبت حضرت بي بي سارهؓ ته شوے دے نو ارشاد دے "فبشرنها باسحٰق ومن وراء اسحٰق يعقوب" (هـود ۱۱: ۷۱) د دويـم زوي زيـري سره دا هم شته چې دې به لـوئـيـږي اولاد بـه ئـې کـيـږي د نبوت په منصب به فائز کيږي. د وروستي زوي زيري سره دغه

خبرې نشته. او کۀ د "من الصلحين" نه پس "و بارکنا عليه الخ" هم زيري سره تړل کړو نو ورسره دا زيرے هم ورکړے شو چې په هغۀ او په اسحٰقؑ به برکتونه وي. او د دوي د اولاده ښې نيکان او د ځان زيان کونکي به هم وي. نو دلته هم د اسحٰق زيري سره د هغۀ نه د نسل د روانيدو زيرے شته. په حضرت ابراهيمؑ د ابدي سلام د قائم ساتلو د ذکر نه پس د برکت، نسبت به د آنجناب د کشر زوي چې نامه ئې (اسحٰقؑ) اخستې شوې ده نه علاوه په (عليه) کښې مشر زوي ته وي چې وړومبے ذکر يې له نامې اخستو وشو. چې د خدائے د رضا دپاره ئې د پلار په ملګرتيا کښې د ځان د قرباني پيشکش وکړو او لکه چې مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۱ ص ۲۱۵) ليکي صاحب قصص الانبياء عبدالوهاب بخار په (عليه) کښې ضمير ذبيح ته راجع ګڼلے دے او د آيت تشريح ئې داسې کړې ده چې مونږ برکت نازل کړ په دغه ذبيح او په اسحٰقؑ يعنې په حضرت ابراهيمؑ هم سلام قائم شو هم په هغه (چې د اسحٰقؑ نه وړومبے حضرت ابراهيمؑ ته الله پاک د ذبيح کيدو دپاره وبخښلو) او هم په اسحٰقؑ برکتونه نازل شول. په دغه صورت کښې به بايد چې "ذريتهما" کښې هم ضمير تثنيه حضرت اسماعيلؑ او حضرت اسحٰقؑ عليهما السلام ته راجع وي. يعنې د دواړو زامنو اولاد به ترې مراد وي. له دې بيانه ښکاري چې د حضرت اسماعيلؑ د نبوت او د اولاد ذکر او بشارت ئې حضرت ابراهيمؑ ته تر هغه وخته نۀ وۀ شوے چې تر څو د قرباني واقعه نۀ وه شوے.

(ط) بل ځائے (مريم ۱۹ : ۵۴ ، ۵۵) ارشاد دے "وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَ كَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ○ وَ كَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ وَ كَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ مَرْضِيًّا ○"

دلته د آنجناب د ذات ستوده صفات د اوصافو په بيان کښې وړومبے د هغوي په وعده کښې د رښتينې کيدو، بيا د هغوي د نبوت او رسالت په منصب جليله د فائز کيدو او ورسره خپل اهل ته د تبليغ حق د نمونځ کولو او زکوٰة ورکولو ذکر دے. او اخر کښې فرمائيلي شوي دي چې د خپل رب په نزد غوره وۀ. د آ نجناب د دغو اوصافو د بيان نه وړومبے د وعدې د پوره کولو ذکر خاص اهميت لري. دا يوه خاص وعده او اهمه واقعه وه. لوے امتحان وۀ چې د دې نورو خبرو نه وړومبے وۀ او آنجناب د الله په فضل او توفيق هغه وعده پوره کړه او په امتحان کښې کامياب شول. هغه وعده وه "سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ" او هغه امتحان وۀ چې د کوم په باره کښې فرمائيلي شوي دي "اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ."

(ي) د "بلؤ المبين" موزون وخت هم هغه وۀ چې د ابراهيم عليه السلام هم اکې يو زوے وۀ او دوي ته د طويل العمر کيدو، لوئيدو پائيدو ترې نه د نسل روانيدو او پيغمبر کيدو ئې هيڅ بشارت نۀ وۀ.

نو تر څو چې د مسئلې په حقله د قرآن حکیم د بیان تعلق دے د حضرت اسماعیلؑ د ذبیح کیدو قرائن ډیر زیات قوي او مضبوط او صفا او واضحه دي او هم دغه د علمائے اسلام د عظیم اکثریت رائ او عقیده ده.

مونږ د دې نـه وړومبے د ذبیح د ذات پـحـقـلـه د بائبل د متضاد او محرف حیثیت نشـاندهي کړو وه علاوه له دې د بائبل په تکوین ۱۷ :۱۸ تر ۲۱ کښې مونږ وینو چې خدائے تعالیٰ حضرت ابراهیمؑ ته هغه وخت چې لا حضرت اسحٰقؑ نهٔ وهٔ شوے د حضرت اسماعیلؑ او حضرت اسحٰقؑ دواړو د پالیدو او ترې د نسلونو روانیدو زیرے ورکوي. او دا هم ورته فرمائي چې زهٔ به خپل ابدي میثاق اسحٰقؑ او د هغهٔ اولاد سره پوره کوم. او په بابونو ۱۹ او ۲۰ کښې د نورو خبرو نه پس په باب ۲۱ کښې چې د حضرت سارهؓ د وینا مطابق خدائے تعالیٰ حضرت ابـراهیـمؑ تـه د عـمـل کولو یعني د حضرت هاجرهؓ او حضرت اسماعیلؑ د شړلو امر فرمائي نو ورتـه والـي "چـې ستـا نـسـل بـه پـه اسحٰق بللے کیږي او ستا د وینځې له زویه به هم زهٔ یو قوم جـوړوم ځـکـه چـې هـغه (هم) ستا تخم دے"(۲۱ : ۱۲، ۱۳) او بیا په باب ۲۲ کښې د قرباني ذکـر لـه دې الـفـاظـو شـروع کیږي "او پس له دغو شیزونو داسې وشول چې خدائے ابراهیمؑ وازمـائیـلو الخ" (۲۲ : ۱ الخ) نو هر کله چې حضرت ابراهیمؑ ته اګاهو دا بشارت شوے وهٔ چې حـضـرت اسـحٰـقؑ (او هـم حـضـرت اسـمـاعیلؑ) به نهٔ صرف لوئیږي بلکې نسلونه به ترې هم روانیږي او عهـد به د حضرت اسحٰقؑ او د هغوي اولاد سره پوره کیږي په دغه صورت کښې کـهٔ خـدائـے د هـر کـوم یـوهٔ زوي د قـرباني حکم ورته کوي او په آزمیښت کښې اچوي نو دا څـنـګـه امتـحان وهٔ. او دغه د قرباني واقعه د بائبل د بیان له رویه نهٔ صرف د حضرت اسحٰقؑ د اولاد کیـدو نه وړومبے شوې وه بلکې د هغوي د وادهٔ نه هم ډیره وړومبې (د وادهٔ د بیان دپاره ئې وګـورئ ۲۴ بـاب) نـو دا وینا به غلطه او بې ځایه وي چې هر کله دغه وخت به د حضرت اسـحٰقؑ اولاد شوے وهٔ نو کهٔ حضرت ابراهیمؑ ته له هغهٔ د نسل روانیدو بشارت ورکړے شوے وهٔ نو حضرت ابراهیمؑ دا قیاس هم کولے شو چې لهٔ دوي به ئې نسل روان شي. او دا یقین ئې نهٔ شـو کیدے چې حضرت اسحٰقؑ به وساتل شي. علاوه له دې د میثاق پوره کیدو خبره هم وه نو میثاق د پوره کیدو نه وړومبے حضرت ابراهیمؑ څنګه ګنل شول چې له دې وړومبے به حضرت اسحٰقؑ د خدائے په لاره کښې قرباني شي.

دلته یوې بلې خبرې ته به هم اشاره مناسبه او مفیده وي. په بائبل کښې قربان ګاه چې حـضـرت ابراهیم علیه السلام ته ښودلے وهٔ د "موریاه" زمکه وه (تکوین ۲۲ : ۲) او کوم ځائے حـضـرت ابـراهیـمؑ ګډ په جاړه کښې د ښکرونو سره نښتے لیدلے وهٔ چې د حضرت اسحٰقؑ په

بـدل کېنـې ئـې قربان کړو هغه ځائے هغوي "يهو يراه" ونوملو. (۲۲:۱۳،۱۴) اوس نو نۀ خو بـغيـر د قيـاسي خبرو نه د "موریاه" زمکه او نۀ هغه ځائے چې دغه زمکه کښې خاص قربان گاه وۀ او نـۀ د شيـخـم پـه خوا کښې موريهه (لکه چې ځنو بائبلي عالمانو قربانگاه موریاه او مریها سـره ئـې يـو گڼلي دي) او نۀ د "يهويراه" Jehoura Jireh پـه حـقـلـه خو د ويسټ منسټر د بـائبـلـي قـاموس مرتب او مدون وائي چې دا ځائے نامعلوم دے او د موريهه (تکوين ۱۲ :۶) په حقله وائي چې د موریاه Moriah او موريهه moreh مـصـادر او اشتقاقات سره بېل دي. په عـکـس د دې "مـروه" کـعبې شريفې ته مخامخ او ورته نزدې ځائے دے. او د صفا او مروه په مينځ کښې سعي د حج له ارکانو ځنې ده. او د حضرت امام مالک د موطا يو حديث دے چې حـضـرت رسـول مقبول ﷺ مروه ته اشاره وفرمائيله او ارشاد ئې وکړو چې دا قربانگاه ده. او دلتـه د قـربـان گاه نه مراد هم د ذبيح د قرباني ځائے دے گڼي ځاروي خو به منيٰ کښې قرباني کيـږي (وگـورئ د حضرت شيخ الاسلام مولانا شبير احمدعثماني مرحوم فوائد سورۀ صٰفٰت په تيرو نقل کړلو شوو آيتونو).

عـلاوه د دې پـه قـرآن کښـې چـې لـکه د ذبيح شخصيت پيش کړے شوے دے تر ې ښـکـاره ده چـې هـغـه هـم لکه د خپل جليل القدر پلار حضرت خليلؑ د حلم، صبر او تسليم و رضـا پيـکـر وۀ چـې پلار ئې رائ معلوموي نو ورته وائي چې باباجي تاسو د خدائے تعالیٰ د امر تـعـميـل وکړئ. ما به کۀ خدائے کا له صابرانو ځنې بياموئ. او بيا د دواړو د تسليم او رضا د شـان په حقله ارشاد دے "فـلـمآ اسلما وتله للجبين" پـه عـکـس د دې په بائبل کښې ذبيح نه دے خبـر چـې مـا پلار څۀ دپاره بوځي او په لاره ترې تپوس کوي چې وگوره اور او لرگي خو شتـه خـو د سـوختـنـي قـربانۍ دپاره ورے نشته او حضرت ابراهيمؑ ورته وائي چې خدائے به د سـوختـنـي قـربـانـۍ دپـاره ورے راکړي او بيا روان شي او منزل مقصود ته ورسي نو حضرت اسـحقؑ وتـړي پـه قـربـانگاه کښې ئې په درو اچوي او چې د حضرت اسحقؑ د حلالولو دپاره چاړۀ راوباسي نو فرښته ورته غږ وکړي چې هلک له لاس مۀ وروړه. الخ (۲۲:۷-۱۲)

چـې څـوک د دومره لوئے امتحان او اعزاز دپاره منتخب کيدو خواه کۀ هغه حضرت اسمٰعيلؑ او کۀ حضرت اسحقؑ وۀ (اگر کۀ زمونږ خيال او عقيده خو هم دا ده لکه چې څرگند کـړې شـوه چـې ذبـيـح هـم حضرت اسمٰعيلؑ وۀ) د هغۀ کردار به هم دغسې وۀ لکه چې قرآن بيان کړے دے.

(۷) د حضرت ابراهيمؑ ورارۀ حضرت لوطؑ:

د جـنـاب خـلـيـل عـلـيه السلام مشره بي بي حضرت سارهؓ او ورارۀ ئې حضرت لوطؑ د

حاران زوړے د حق د دعوت د اسلام وروميي قبلونكي وو او د ملت ابراهيميؑ په سابقون الاولون كښې داخل دي. او دواړه د حضرت خليلؑ په هجرتونو كښې هميشه ورسره وو. حضرت لوطؑ هم لكه چې وړومبے هم وئيلي شوي دي الله جل شانه په مقرره وخت د نبوت په منصب فائز كړل او د سدوم او عاموره د منكرينو او بد عمله او بدكرداره خلقو د هدايت دپاره ئې مامور كړل. دغه آبادئ د اردون هغه لورې ته وے چې بحر ميت پروت واقع دے. دغه بدبختان د خدائے تعالىٰ له پيغمبره روګردان او د حق د دعوت له قبلولو منكر شول نو خدائے تعالىٰ پرې آسماني عذاب نازل كړو او دوي ئې پرې وركړل چې ورسره د حضرت لوطؑ ښځه هم د خپل كفر او نافرمانۍ له قبله په عذاب كښې گرفتاره او تباه شوه. په قرآن پاک كښې مونږ د لوطؑ كردار او شخصيت هم دغه شان وينو گورو لكه چې د يوهٔ نبي شان سره شايان وي. په عكس د دې په بائبل كښې مونږ هغوي په مختلفو رنګونو او متضادو حالتونو كښې وينو گورو. پيدائش ۱۸: ۲۳-۳۲ او بيا ۱۹: ۱-۲۹ كښې خو مونږ ته حضرت لوطؑ د خدائے يو راست باز او نجات يافته بنده ښكاري خو بيا وروسته (۱۹: ۳۰-۳۸) كښې ورته د داسې خبرو نسبت كيږي چې د خدائے يو راستباز بنده د حضرت خليل اللهؑ د عمر رفيق او پسرو خو پريږدئ چې د لږې حيا او شرم هر څښتن به ترې هم لرې تښتي يعني معاذ الله وړومبے پرې يوې (مشرې) لور شراب وڅښول او بيا پرې بلې (كشرې) او دواړه ورسره وار په وار (خاكم بدهن) څملاستے او ترې بار دارلې شولے او په ترتيب ترې موآب او بن عمي پيدا شول چې د موابيانو او د بني عمون نيكونه او مورثان دي.

۳. د عيص Esau د اولاد او احفاد دپاره وګورئ بائبل، د توريت د سفر تكوين يا كتاب پيدائش باب ۳۶ او راتلونكے يعني ۴ نوټ.

۴. د متعلقه ځائے ترجمه ناقصه او نامكمله ده. اصل عبارت سره د ترجمې دا دے:

"حق سبحانه تعالىٰ اورادر میان خلائق به سروری وسرداری برگزید ونعمت ودولت دنیوی بسیار به اوارزانی داشت ومدت بسیار دران دیار عرب به عیش وتنعم گزرانید۔ عیص به واسطۂ بختی وشدت وحرارت گرما از زمین مکه که مسکن وماورائے پدر وجداو بود ہجرت اختیار نموده به جانب شام وروم متوجه گشت وچون به آن دیار رسید آب وہوائے آن سرزمین اورا به غایت خوش آمد وطرح اقامت اندراخت حق جل وعلا اورا فرزندان بسیار کرامت فرمود ونام ہر یکے شہرے درآن دیار آبادان ساخت۔ روم نام پسراو شدہ بزرگ (دوا کمل ۷) عیص بود که آن مملکت به او منسوب شدہ واوزرد چہرہ بود بنا برآن میان اکثرے اصفر الوجه اند وبعضے گفته اند که کنعان ومدین نیز از فرزندان عیص بودند" (ن ز ۶/۲ ن ح جلد اول ص ۱۹)

يعنې "حق سبحانه تعالىٰ هغه په خلقو كښې په مشرى او خانى وټاكلو او د دنيا مال متاع ئې ډير ورو بخښل او ډيره موده ئې په هغه ملک د عربستان كښې په عيش معاش تيره كړه او د

تاؤ او د اوړي د سختی او زور لـه قبلـه ئـې د مـکـې لـه زمکې چې د پلار نیکهٔ کور کلے ئ
ولیـږدیـد او د شام روم لوري ته ئې مخ کړو او چې په هغه لته ورغـے د هغې اوبهٔ او هوا ئې ډیر
خـوښـه شـولـه او هم هورې ئې کډه واچوله. حق جل وعلا ډیر زامن وروبخښل او د هر یوهٔ ؛
نـوم ئـې پـه هـغـه لته یو ښار ودان کړ. روم نوم ئې د عیص مشر او لوے زوے وهٔ چې هغه لته ؛
هـغـهٔ وبللے شوه. او هغه زیږ مخے وهٔ او له دې قبله ډیر رومیان زیږ مخي دي او څنو وئیلي د:
چې کنعان او مدین هم د عیص له زامنو دي."

پـه هـر حال د افضل خان ترجمه هم دغه هومره بږخه لري چې پکښې عیص ته د رو
او مدین او کنعان پلار نیکهٔ وئیلي شوي دي.

د تـاریـخ خـان جهـانـي پـه متـعلقه څائے د بناغلي امام الدین صاحب حاشیې هم د ـ
دوباره کولو دي:

۱. "بہ اومنسوب شد" بـانـدې لیکلے شوے حاشیه د "د" (د ایشیاټک سوسائټي کلکته لائبریر
نسخه ۱۰۱) ورق ۸ په بنا: "آن مملکت بنام او شہرت یافتہ وقلعہ ہائے وحصار ہائے بنیاد نہاد" یعني هغه لتې د ه
پـه نـامـه مشهـوري بیـامـونده او پکښې ئې کوټونه او ګرهی جوړې کړې. د مجمع الانسا
سـوسائټي ورق ۲٦ "طائفہ سوم ایشان را قیاصرہ گویند یعنی قیصران روم عدد شان چہل وسہ" یـعـنـي دریمه ډله هغو
تـه قیاصره یعني د روم قیصران وائي چې شمار ئې درې څلویښت دے) د ن ح په حاشیه کښ
"قیـصـر آن روم" یـعـنـي "د هـغـه روم قیصر" دے ګوندې د ټائپ غلطي وي. د "طائفه سوم
تـرجـمـه پـه طـور د "دریمه ډله" کولو په حقله زما شک دے چې صحیح به وي کهٔ نه کید
شـي "طائفه سوم" د "طائفه روم" متبادل وي نو بیا به ترجمه داسې پکار وي د سوم ډله، هغو
تـه قیـاصـره یعني الخ او کهٔ "دریمه ډله" ترجمه صحیح وي نو د ترجمې بل صورت داسې ه
کیدے شي. "دریمه ډله" هغوي ته قیاصره یعني دې سوم ډلې ته په بل صورت دې دریمې ډل
تـه قیـاصـره وائي. هر کله چې پوره عبارت زمونږ د وړاندې نشته نو په یقین څهٔ نهٔ شو وئیلے
هر صورت... والله اعلم بالصواب.

۲. "د" ورق ۸ "از فرزندان عیص بودند" باندې حاشیه: "نیز بنام فرزندان اوست" (یعني هم د هغهٔ د زام
په نامه دے.)

د دغه ځائے د ډورن انګریزي ترجمه د هغهٔ د کتاب په ص ۸ راغلې ده خو هغهٔ پرې
څهٔ لیکلو ضرورت نهٔ دے محسوس کړے وګورئ په ص ۸ د نوټونو مقام.
Annotation on Part the First ص ۲۰ په تسلسل د صفحاتو د دویمې حصې.

وروسته د دې نه چې مونږ پـه دې اقتبـاس او د تـاریخ مرصع په متعلقه ځائے انتقا

شروع کړو لاندېنو خبرو ته د بناغلو لوستونکيو پام راګرزول مناسب ګڼو.
(۱) سفر تکوين ۳۶: ۱ ـ ۵

"اوس دا ده نسب نامه د عيسو چې ايدوم دے. عيسو د کنعان له لونو ارتيني وکړے: عـده د ايلون حتي لور، او آهليبامه لور د عنه لور د صبعون حوي او بشيماث د اسمٰعيل لور د بنيوت خور او عدے له عيسو الفز راوړ او بشيماث رعوايل او آهليبامه ترې يعوس او لعيدم او قوره راوړل دا د عيسو زامن دي چې د هغهٔ د کنعان په زمکه وشول."
او ۳٦ : ۸،۹:

"داسې عيسو د سعير په غرهٔ ميشته شو عيسو ادوم دے. او دا ده نسب نامه د عيسو چې د سعير د غرهٔ د ادوميانو پلار دے. الخ"

دلتـه بـه دا وضـاحـت بـې ځـايه نهٔ وي چې د عيسو د ښځو په حقله هم د بائبل بيان له تـضـاده خـالـي نـهٔ دے. پـه ۳٦: ۱ ـ۵ کښې تاسو وليدل چې عده د اياون حتي او بشيماث د حـضـرت اسـمٰـعيـلؑ لـور او د نبيوت خـور ياده شوې ده خو وګورئ ۲٦: ۳۴ چې له رويه ئې عيسو چې د څلويښتو کالو شو نو د بيري حتي لور يودث او د ايلون حتي لور بشامث سره ئې وادهٔ وکړو. او ۲۸: ۹ له رويه عيسو اسمٰعيلؑ سره لاړ او علاوه له هغه ښځو چې له وړومبيه ئې وے محلات لور د اسمٰعيلؑ بن ابراهيمؑ چې د نبيوت خور وه سره هم وادهٔ وکړو يعنې بشيماث د ايلون حتي لور وه (عده نهٔ وه) او د اسمٰعيلؑ د لور نامه بشيماث نه بلکې محلات وه. دا به عـجيبـه اتـفـاق وهٔ کـهٔ مـونږ ووايو چې د دغو دواړو د هرې يوې دوه نامې وے هم عده او هم بشيماث او بشيماث او محلات.

نو ښکاره شوه چې خواجه نعمت الله او د مجمع الانساب مؤلف ايدوم يا ادوم Edom او روم Rome يـا سـوم (کـهٔ مـجـمع الانساب کښې ترې لکه د (ن م) محشي ئې عبارت نقل کـړے دے دريـمه ډله مراد نهٔ وي بلکې د روم متبادل صورت وي. يا سوم هم د روم په ځائے د کتـابـت يـا ټـائـپ د غـلـطي په وجه ليکلے شوے وي). سره ګډوډ کړي دي. بايد چې دلته دا وضـاحت هم وشي چې د مسلمانانو په تاريخ او ادب کښې روم بالعموم د روم شرقي سلطنت يا بيزنطين The Eastern Empire or Byzantian ته چې قسطنطنيه ئې مرکز وهٔ وائي.

د خـواجـه نـعـمـت الله دا بيـان هم چې مکه د عيص يا عيسو د پلار نيکهٔ کور کلے وهٔ (زمین مکہ کہ مسکن وماوائے پدر وجد او بود) هـم محل نظر دے. حضرت ابراهيمؑ خو مکې ته تشريف راوړے وهٔ او شپې ورځې ئې هم پکښې تيرې کړې وے خو د حضرت اسحٰقؑ په حقله له تاريخه دا نهٔ دي ثابت. د عيص په ديار عرب مکه او خواوشا کښې ئې استوګه د خپل ترهٔ او خسر حضرت

اسمٰعیلؑ له قبله وه.

د ادوم خطې ته یوناني کښې ادومیه وائي او د بحر میت او د خلیج عقبه تر مینځه واقع ده. قطب ته ئې بحر میت او فلسطین، سویل ته ئې د خلیج عقبه قطبي برخه او مدین، لویدیز ته ټاپو څیر (جزیره نما) سینا او ختیز ته ئې د مواب زمکه ده. او د قطبي عرب جوف دے. د سعیر یا سراة غر په کښې قطب سویل لوري تللے او هم دې دپاره په تورات کښې د ادوم مقام سعیر ښودلے شوے دے.

په عربو کښې عیسو په ادوم (سور) مشهور دے. یعنې د هغهٔ د سور سپین رنګ له قبله. او یو نوے غیر یقیني تحقیق دا هم دے چې د دې زمکې رنګ سور دے نو دې دپاره ادوم وبللې شوه. او د بائبل د بیان (تکوین ۲۵ : ۳۰ـ ۳۲) له رویه هغهٔ د یعقوبؑ سره سودا وکړه او خپل پیدائشي حق ئې د سرې تر کارې په بدل پرې خرڅ کړے وهٔ. دا قصه نهٔ صرف د عیسو بلکې (معاذ الله) د حضرت یعقوبؑ کسر شان هم کوي. ادومیانو یو نوے مملکت قائم کړے وهٔ د دوي باچهان یا شیخان به موروثي نه بلکې منتخب به وو. د ادوم د دارالحکومت نوم په عبري یا عبراني کښې سلاع او یوناني کښې پیټرا (چې د دوارو معنیٰ ګالے ده) راغلے دے. خو عرب ورته رقیم وائي. دا په اصل کښې یو مدیاني ښهر وهٔ د مدین نه پس پرې ادوم قبضه وکړه (ارض القرآن جلد ۲ ص ۲۹) د بائبل ویسټ منسټر قاموس ص ۱۴۷ کالم ۲ په څلورمه صدی قبل مسیح کښې د عربو یوې بدوي قبیلې نبط (جمع انباط یا نبایوط) قوت حاصلول شروع کړل او ادومیانې ئې مغلوب کړل او دوي د بحر میت بلې غاړې ته لاړل. او غالباً هم دغه وجه ده چې د یوسیفوس Josephusاو بطلیموس Ptolemy په آثارو او په تالمود کښې ایدومیا هم هغه خوا بللې شوې ده. د سلاع نه علاوه د ادوم د نورو ښارونو نامې دا دي: بوزراه، ینمان، دنهابه، بصرئ، عویث، مشریفا، رحبوت، فاعو. د دوي وخت په وخت بني اسرائیل سره هم مقابلې شوې دي او کله ئې د نورو قومونو په مقابله کښې د بني اسرائیل مرسته کړې ده.

نبطیان (انباط یا نبایوط) چې د چا له لاسه ادومیان مغلوب او د بحر میت بلې غاړې ته په تللو مجبور شوي وو د نبط یا نبیوت یعنې د حضرت اسمٰعیلؑ د زوي او د عیسو د بي بي بشیمات یا محلات د ورور له اولاده دي. او اګر کهٔ د بائبل د ویسټ منسټر قاموس مرتب نبیوت Nebaioth in A.V. Nebajoth او نبیاتینز یو نهٔ ګڼي خو پروفیسر حتي نبیاتینز او انباط او نبطي یو ګڼي (تاریخ عرب ص ۶۷) او مولانا سید سلیمان صاحب د هغوي په اسماعیلي عرب کیدو باندې ډیر مفصل او مدلل بحث کوي. په هر کیف د یاد شوي قاموس

مرتب هم نبطیانو هم عرب گڼي. د دوي خپله ژبه خو عربي ده خو د ليک لوست دپاره به ئي يوناني او آرامي ژبې استعمالولې. دوي د ډېر لوئې مملکت او وچت تهذيب او تمدن څښتنان وو. مولانا سيد سليمان صاحب ليکي چې په شروع کښې د دوي حکومت په هغې لته وۀ چې په عبراني کښې به ئي ورته ادوم سعير يا سراة وئيل او يونانيانو به اربيا پيترا بلله خو وروستو بيا دوي د عربو په صحرائي او وداو زمکو هم قابض شول. د دوي ملک په مغرب کښې تر بحر احمره او مشرق کښې تر خليج فارسه وۀ. او په مينځ کښې ئي گرده علاقه عرب سنگستان عرب ريگستان او يوه برخه د عرب آبادان وه. او اصل آبادي ئي د خليج عقبه خواوشا وه. (ارض القرآن جلد ٢ ص ٥٩، ٦٠) د عرب سنگستان نه مراد هم هغه پيترا او سلاع، کالې دې. عرب ريگستان وسطي عرب دے چې صحرائي عرب، د حجاز او نجد علاقې پکښې شاملې دي او مشهور ښارونه ئي مکه معظمه، مدينه منوره او طائف دي. د جدي بندرگاه هم په دغه علاقه کښې ده. يونانيانو دغه علاقه ايربيا ديزرټا بلله او له عرب آبادا نه مراد جنوبي عرب دے چې د يمن علاقه پکښې شامله ده. يونانيانو به ورته اربيا فيلکس وے. لکه چې پروفيسر حتي ليکي چې د دوي مرکز هم د ادوميانو سلاع يا پيترا وۀ چې عرب ئي رقيم بللې. محل وقوع ئي هم دغه وۀ چې اوس په وادئ موسیٰ کښې دام البياره دے (تاريخ شام ص ٣٧٦) لکه چې مولانا سيد سليمان صاحب مرحوم تصريح فرمائي د رقيم نه علاوه حجر هم د انباط مرکز وۀ او قرآن حکيم کښې چې اصحاب الحجر ياد شوي دي مراد ترې هم دغه انباط دي. (ارض القرآن جلد ٢ ص ٤٧، ٤٥) د دوي په تاريخ کښې ورومبے واضح تاريخ ٣١٢ قبل مسيح او اخري تاريخ ئي ١٠٦ ء دے. چې روميانو د دوي حکومت ختم او په ملک ئي ورله قبضه وکړه. او بصرئ ئي د خپلې د دې سيمې دارالحکومت وگرځولو. (وگورئ د سيد سليمان صاحب مرحوم ارض القرآن جلد ٢ ص ٢٨ - ٣٩ او ٥٦ - ٧٧) د بائبل ويسټ منسټر قاموس عنوانات ايدوم Edom ايدوميا Idumea او ايدوميان Edomites نباتيېنز Nabataeans او آراميان Aramaeans او د پروفيسر حتي تاريخ عرب ص ٦٧ - ٧٤ او تاريخ شام ص ٣٧٤ - ٣٨٨.

۵. ن ز ''مهتر يعقوب ازعيس به سال خورد بود'' ٦/٢ کۀ بغرگوني پيدا وو نو تر مينځه ئي د څو ساعتونو فرق خو کيدے شو خو نۀ د کلونو يا کال نۀ د مياشت يا ورځو. د ن ح ص ١٩ عبارت داسې دے ''ومهتر يعقوب برادر خورد عيس بود.''

٦. په ن ز کښې هم خاله ليکلې دي او هم دغه شان په ن ح کښې هم لکه چې د ښاغلي محشي له ليکه معلوميږي ''خاله'' ليکلي وو خو هغوي درستي وکړه او ''خال'' ئي کړ. د

هغوي د متعلقې حاشيې (ص ۲۰ حاشيه) نه معلوميږي چې د هغوي په مخکښنې تولو نسخو کښې هم "خاله" ليکلي وو هغوي درستي د تاريخ طبري جلد ۱ ص ۸۹ "مادراورا گفت برادرم کی بہ لبان بہ شام است" (په مسمیٰ مد لـه ما دی) او وګوری تاريخ طبري اردو ترجمه جلد اول ص ۲۶۴ ـ ۲۶۵) نو د دې بيان لـه رويه د حضرت يعقوبؑ خاله (ترور د مور خور) نه بلکې خال (ماما د مور ورور) وه او چې کوم اسناد معتبر يا غير معتبر مونږ په دې حقله لرو د هغو له رويه د بل کوم قياس څۀ سوال هډو نۀ پيداوېږي. Labean ليبن، لابن يا لبان د بتوئيل بن ناحور زوی وۀ او د حضرت اسحٰقؑ بي بي حضرت ربقهؓ د حضرت يعقوبؑ والده ماجده د بتوئيل لور او د لبان خور وه. (سفر تکوين ۲۴: ۱ ـ ۶۷ خصوصاً ۱: ۲۹، او ۱۳۲۹ تالمود ص ۶۱ ـ ۶۳ او د بائبل ويسټ منسټر قاموس مقاله ليبن. په ن ز او ن ح کښې د لبان په ځائے ليان دے چې صحيح نۀ دے.

۷. د بائبل ويسټ منسټر قاموس کښې دَ اسرائيل معنيٰ داسې ده:

Popularly, he strives with god, but rather god strives or let god rule (or god rules)يعني عموماً يا عاميانه دا معنيٰ کيږي چې هغه د خدائے سره کوشان دے خو بهتره دا چې خدائے جهد کوي يا د خدائے حکم دې چليږي. (يا د خدائے حکم چليږي) مقاله اسرائيل. مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم د اسرائيل معنيٰ داسې کښلې ده. اسر (عبد) او ايل (الله) يعني عبدالله. د الله بنده. (قصص القرآن جلد ۱ ص ۲۵۲، ۲۵۳) په لغات القرآن جلد ۱ کښې ئې معنيٰ د الله برگزيده يا بنده کښلې ده. (مقاله اسرائيل) ډورن (ص ۶۰ په تسلسل د دويمې حصې د صفحاتو) تقريباً هم دغه معنيٰ د خلاصة الانساب په سند ليکي Chosen of God يعني د خدائے برگزيده او Servant of God يعني د خدائے بنده. او تالمود (ص ۲۷) کښې ليکلي دي چې يعقوب د سلو کالو شو نو خدائے وربښکاره شو او هغه ئې اسرائيل وبالۀ.

۸. Leah لي آ، ليا.

۹. Rachel ريخيل (دواړه ي ګانې پخې يعني مجهولې) داخيل يا راحيل.

صـ ۱۵

پښتو نسخه کهتره. د ن ز او ن ح عبارت داسې دے: "يعقوب راحيل را كه خوبتر و كهتر بود بخواست" يعني يعقوب راحيل چې ښکلے او کشره وه، وغوښته.

۲. مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم د عيسو او حضرت يعقوب عليه السلام د خفگان د حضرت يعقوبؑ له کوره د وتو او ماما کره د تلو د هغۀ لونو سره د ودونو او بيرته وطن ته د

راتک د مختصر ذکر نه پس فرمائي: "دا تولي خبري د توريت قصه او داستان دي." الخ (قصص القرآن جلد ۱ ص ۲۵۱، ۲۵۲) يعني ډيري خبري او تفصيلات د منلو نهٔ دي.

صـ ۱٦

مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۱ ص ۲۲۷) په ځائے فرمائي چې دغه قصې لکه د توريت د ډيرو نورو محرفو خبرو د انبياء عليهم السلام شان سره سمې نهٔ دي. مناسب دي چې خبردارے ورکړے شي چې زما په مخکښې قصص القرآن (څلورم چاپ) کښې د متعلقې قصې دپاره د پيدائش يا سفر تکوين د باب ۳۴: ۱ تا ۲۵ حواله ورکړې شوي ده. دا سهوه يا د کتابت غلطي ده پيدائش باب ۳۴ د حضرت اسحقؑ د وادهٔ قصې سره تعلق لري. او حضرت يعقوب عليه السلام ته د نبوت عطا کيدو په باره کښې دغه او د حضرت يعقوبؑ د سفر او ودونو قصې په ۲۷ او ۲۸ بابونو کښې دي.

۲. يعني څلور سوه.

۳. دا هم هغه سفر ته حواله ده چې وړومبے ئې ذکر وشو.

۴. په بائبل کښې د حضرت يعقوبؑ د اولاد ذکر:

د ليا نه ئې دا زامن وو روبن، Reuben چې د يعقوبؑ په اولاد کښې له ټولو مشر وهٔ. شمعون Simeon ليوي Levy يا لاوي يهودا Judah اشکار Isaachar زبلون Zebulun (۲۳:۳۵)

د راخيل د وينځې بلهاه نه ئې دا زامن وو: Dan دان او Naphtali نفتالي (۲۵:۳۵)

د ليا د وينځې زلفه نه ئې دا زامن وو Gead جد او Asher آشر (۲٦:۳۵)

کل: ٦ (د ليا زامن) + ۲ (د راخيل زامن) + ۲ (د بلهاه زامن) + ۲ (د زلفه زامن) = ۱۲

د تاريخ خان جهاني او مخزن افغاني په نسخو کښې د نامو په هجو کښې څهٔ کم و زيات بيلتون دے. مثلاً په پښتو ترجمه کښې هجه قفلان په ن ز کښې هم قفلان خو په ن ح (جلد اول ص ۲۵) کښې فضلان ده. بيا په حاشيه ۳ کښې د هغه نسخو حواله ده چې قفلان پکښې ليکلY ده. دغسې د ضياد او سيري نامې خياد او شيري، ضباد او شري هم راغلي دي. د تفصيل دپاره د ن ح ص ۲۵ او حواشي وکتل شي.

۵. والله اعلم بالصواب. نهٔ خو له قرآنه او نهٔ له صحيح حديثه د يهوداه نبوت ثابت دے او بې له دغه سندونو چاته نبي يا رسول وئيل التهاني غير ذمه دار کار دے.

٦. يعني د لاوي له اولاده چې هغه د يعقوبؑ زوے وهٔ په نورو او زياتو موزونو تورو کښې مطلب: "د لاوي بن يعقوبؑ له اولاده ئې" الخ دے.

۷. په ن ح کښې د بالکي پور خدا بخش لائبريری د نسخې په حواله دا عبارت هم ورسره دے: "و به روایتے ابن یامین برادر یوسف بود سلسلهٔ انساب این طائفه کرام به اوی رسد و به جمیع خصال حمیده آراسته بود۔ او را حق تعالیٰ فرزند کرامت فرمود روئیل نام نهاد۔ چون به سن رشد و تمیز رسید از اولاد لاوی بن مهتر یعقوبؑ صبیه برائے او خواستگاری نمود از وفرزند متولد شد عیص نام نهاد و از عیص فرزند به وجود آمد عتبه نام نهاد و از وفرزند متولد شد او را به قیس موسوم ساخت و از قیس فرزند متولد شد سارول نام نهاد۔ بنا بر طول قامت او را طالوت می گفتند۔" (ص ۲۷، ۲۸)

يعنې "او د يوۀ روايت له رويه د دې عزتمنې ډلې د نسب سلسله بن يامين د يوسفؑ تر ورورۀ رسي چې په ټولو ښکلو خويونو ښوللے وۀ حق تعالیٰ زوے وروبخښلو روئيل ئې ونوملو چې لوے او هوښيار شو نو د حضرت يعقوبؑ د زوي لاوي له اولاده ئې ورله جينۍ وغوښته له هغې يو زوے وزېږېد چې عيص نوم ئې ورله کېښود او له عيصه زوے وشو عتبه نامه ئې ورله کېښوه له هغۀ زوے پيدا شو نامه ئې قيس شوه او له هغۀ زوے پيدا شو سارول ونومول شو او د جګې ونې له قبله په طالوت بالۀ شو."

لکه د پورتنې اقتباس د بائبل د بيان له رويه هم سال يا ساؤل soul د بن يامين له اولاده وۀ. په زړې عهدنامې کښې تواريخ کتاب اول د بن يامين د اولاد ذکر داسې کوي: "په جبعون کښې د جبعون پلار وسيدو او د هغۀ د ارتينې نوم معکه وۀ او د هغۀ وړومبے زوے عبدون او زور او قيس او بعل او نادب او جدور او اخيو او ذکر او له مکلوته شمياه پيدا شو. او دوي هم په يروشلم کښې د ورورو سره وسيدل. او د نير نه قيس پيدا شو او د قيس نه ساول پيدا شو او د ساول نه يهونتن او ملک شوع او ابنداب او اشبعل پيدا شول. (باب ۸)

او بيا باب ۹: ۳۵-۳۹ "او په جبعون کښې د جبعون پلار يعوايل وسيدو او د هغۀ د ښځې نامه معکه وه. او د هغۀ وړومبے زوے عبدون وۀ او له هغۀ پس زور او قيس او بعل او نير او نادب. او جدور او اخيو او ذکر او مکلوث. او له مکلوته شممام پيدا شو او هغوي هم د خپلو ورونو سره د هغوي په مخکښې په يروشلم کښې وسيدل . او له نيره قيس پيدا شو او له قيسه ساول او له ساوله يهونتن او ملک شوع او ابنداب پيدا شول.

په ۸: ۲۹ - ۳۳ د جبعون پلار نۀ دے ښودلے شوے نۀ د هغۀ په اولاد کښې د نير ذکر راغلے دے خو په هر کيف په جمله ۳۳ کښې د نير ذکر په طور د قيس د پلار او د ساول د نيکۀ راشي.

له ۹: ۳۵- ۳۹ معلوميږي چې د جبعون پلار يعوئيل وۀ او د يعوئيل په زامنو کښې د نير نامه هم شته. علاوه د دې نه په ۸: ۳۲ کښې د مکلوث د زوي نامه شمياه او په ۹:۳۸ کښې شممام يا شميام Shimiam ده.

جبعون Gibeon پـه اصـل کـبنـي د ښار نوم وهٔ چي له يروشلم (بيت المقدسه) تقريباً پينـځـهٔ نيـم ميـله قطب شخو نمر پريواتهٔ لوري ته آباد او په هغه غلاقه کبني شامل وهٔ چې بن يـمينيانو ته ور کړې شوې وه. (وګورئ د بائبل ويسټ منسټر قاموس مقاله جبعون) ګوندې د ښار د نسبت له قبله ئې استوګنو ته جبعون او د هغوي مشر ته ئې د جبعون پلار وئيلې دي.

پـه عـکـس د پورتنو بيانانو د قيس (د ساول د پلار) نوم او شجره شموئيل کتاب اول ۹ : ۱ پـل شـان بيانوي : "او له بني بنيامينه يو سړے وهٔ چې نوم ئې قيس زوے د ابي ايل زوے د زرور زوے د بکورث زوے د آفيا او دا ابن يميني ډير قوت من سړے وهٔ او د هغهٔ زوے ساؤل الخ."

پـه اردو تـرجمه کبني د آفيا په ځائے افيق ليکلي دي خو په انګريزي ترجمه او هم په ويسټ منسټـر قـاموس او بـائبـل کـانکارډينس نوم ئې لغات (چې د بائبل د کلماتو د ورود مقامات ښيي) کبني Appiah دے چې ليکاړنه Transliteration پـه لـې آفيه آفياه يا ايفيه. افيق Appeq يا Aphik د آشـر پـه عـلاقـه کبني د يوهٔ ځائے نوم دے وګورئ ويسټ منسټر قاموس Aphek او Aphik پـه ويسټ منسټر قاموس کـبني د Apphiah تلفظ Afia (آفيا) ور کړے دے (وګورئ Aphia او په شروع کتاب کبني تلفظي تشريحات)

د پورتـه ښـکـاره کـړلـي شـوي تضاد له قبله په قاموس کبني دوه شجرې ور کړے او ورسـره وئيـلـي شـوي دي چې ګوندې يا خو په وروستي بيان کبني (د تواريخ بيان اګر کهٔ په مقـالـه او زمونږ په نوټ کبني اول الذکر دے خو د زمانې په لحاظ وروستو دے) مدعا صرف دومره وي چې کـش (قيـس) د نيـر له اولاده دے نه چې د هغهٔ بلا واسطه زوے او داسې به په شـجـره کـبني د ابي ايل او نورو نامو د داخلولو ګنجائش پيدا شي او يا دا چې ابي ايل صحيح شکل وي.

تـر څـو چـې د سـاؤل د عـرفـي نوم تعلق دے نو قرآن حکيم کبني هم په طالوت بللے شـوے دے او اګـر کهٔ د ن ح له بين القوسين اقتباسه تاسو ولـيـدل چې هغهٔ ته به ئې د جګې ونې لـه قبـلـه طـالـوت وئيل کيدے شي چې په خپل ژوند کبني هم په دغه يا په هم معنیٰ عرفي نوم بـلـلے شوے وي خو ما د دې خبرې څهٔ سند لا تراوسه نهٔ دے موندلے چې هغه د قرآن حکيم د نـزول نه وړومبے هم په دې يا دغسې (هم معنیٰ) په بله نامه معروف وهٔ. د قرآن حکيم د هغهٔ په دې نامه د بللو په حکمت به بل ځائے بحث راشي. (ان شآء الله تعالیٰ)

صــ ۱۷

. فرعون باچا نوم نه بلکې د پخواني مصر د باچاهانو لقب وهٔ.

ن ز ورق ۱۰ ۲/ او ن ح ص ۲۹ ''فرعون را کہ خواہرزادۂ شداد بن عاد واز گروہ عادیان بود الخ'' يعني ''فرعون چې د عاد د زوي شداد خوریې او د عاديانو له ډلې وۀ الخ''

۲. عـام طور سره رعمسيس دويم د حضرت موسیٰ کليم الله علي نبينا و عليه الصلوٰة والسلام فرعون ګڼلې شي خو د مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم د مصري علماؤ د نوؤ تحقيقاتو په بـنـا دا خيـال دے چـې د حـضـرت مـوسیٰؑ ولادت باسعادت د رعمسيس دويم په عهد کښې شـوے وۀ. او د عـمـر مبارک يوه برخه ئې هم د هغۀ په زمانه کښې تيره وه خو د آنجناب عليه السـلام د نبوت، رسالت او دعوت په وخت رعمسيس مړ وۀ او د هغۀ د زوي منفتاح (۱۲۹۲ ـ ۱۲۲۵ ق م) حـکـومـت وۀ چې پلار د خپل ډير بوډاوالي له قبله په خپل ژوندانۀ کښې ځان سره په حکومت کښې شريک کړے وۀ. (قصص القرآن جلد ۱ ص ۳۲۸ ـ ۳۳۰)

فـرعـون په رود نيل کښې نه بلکې بحر قلزم کښې چې بحر احمر ورته هم وائي غرق شـوے وۀ. قـرآن پـاک کښـې اګـر کـۀ د اوبو چې فرعون او ډله ئې پکښې ډوبه شوې وه نوم نشته بحر ئې ورته وئيلي دي.

۳. مـط ن ح ص ۳۱ ن ز ورق ۱۱/۲ اليا و اريحا و برسا. ډورن مط ن ح پښتو ترجمه کښې اليـاء ريـحـان او ويـل بـردود دي. ښـاغـلـي امـام الدين صاحب د ن ح مدون او محشي په ډيو ښـارونـو لـيـکلې شوے حاشيه کښې د مختلفو نسخو په بنا د ښارونو په اختلاف راغلي نومونه ''اليـا و اريـحـا و بـليان'' او ''اريحا و نيسان و ايليا'' او ''ايلبا و ارسجا و بلسا'' ليکي او د تاريخ طبـري په حواله ليکي چې له هغو ښارونو د يو نوم بلقا او د بل بليسا وۀ. (ډورن په متعلقه ځائے پـه خپـل نـوټ ۲۱ په تسلسل د دويمې حصې د صفحو) هم صرف د بليا او بلقا ذکر د تاريخ طبري په حواله کوي.) بيا ښاغلے امام الدين صاحب د روضة الصفا عبارت راوړي چې مطلب ئـې دا دے چـې ځـنـې وائي چې ارض مقدس عبارت دے له بيت المقدس او ايليا او ځنو د طور سيـنـا خـواؤشـا يـاده کـړے ده ځـنـې ئې فلسطين او د اردن خواؤشا او يوه ډله ټول شام ارض مقدسه ګڼي.

تـر څـو چـې د ښـارونـو د نـومونو د املا تعلق دے اليا يا ايليا او اريحا او بلسا او برسا صحيح صورتونه دي په بلسا او برسا کښې د (ل) او (ر) د بدلون مثالونه ډير دي.

اليا نه مراد بيت المقدس دے (وګورئ د حتي تاريخ شام ص ۴۳۵)

اريـحـا يا يريحو Jericho د وادي اردن مشهـور ښـار دے چـې داردن سيند نه پينځ ميـله لويديز ته د بحر ميت قطبي سر نه پينځۀ ميله او د يروشلم (بيت المقدس) نه اوولس مي قـطـب خاتيز ته پروت دے. (وګورئ د بائبل ويسټ منسټر قاموس او ورسره منسلکې نقش

۲ او ۱۲) د دې جـملې په لړ کښې د څنو نورو يادو شوو څايونو په حقله به هم نوټ ۷ او ۱۸ کښې بحث وشي.

۴. اګـر کـهٔ تـر دې وخته يعنې له حضرت يعقوبؑ تر حضرت موسيٰؑ په بني اسرائيل يو لوے قـوم جوړ شـوے وهٔ خو بيا هم دومره خصوصاً د سورو داسې لوے فوځ فراهم کول محل نظر دې.

صـ ۱۸

يعنې درې سوه ديرش.

۲. دې خبـر ګيـرى دپـاره چـې کـوم کسـان مقرر شوي وو په بائبل کښې د هغوي دا نومونه راغـلـي دي: (۱) شـمـواع د ذکـر زوے (۲) شفت د حوري زوے (۳) کالب د يفنه زوے (۴) اجال د يوسف زوے (۵) يوشع د نون زوے (۶) فلتي د رفو زوے (۷) جدي ايل د سودي زوے (۸) جـدي د سـوسـي زوے (۹) عـمـي ايـل د جملي زوے (۱۰) ستور د ميکا ايل زوے (۱۱) نخبي د ونسي زوے (۱۲) جيو ايل د ماکي زوے (اعداد ۱۳ ۱ ـ ۷)

۳. متبـادل صـورت عـاج بـن عـنق لکه چې په پښتو ترجمه او فارسي نسخو کښې هم ليکلے دے. پـه ن ز ورق ۱۲/۱ کښـې ورته په حاشيه نعوج ليکلي دي. او اکثرو نورو کتابونو کښې هم دغه صورت غوره کړے شوے دے.

۴. ن ز ورق ۱۲/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۳۳ "سه هزار و سه صد و سي و سه" يعنې ۳۳۳۳.

۵. دلور د طرفه نمسے. "ومادرش دختر زادهٔ آدم الخ" ن ز ۱۲/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۳۳.

۶. زمـا پـه مـخـکښې پښتو عبارت ناقص دے. ن ز "هراس تمام در دل راه يافت گفتند يا موسیٰ به اين قوم محاربه نمی توانيم کرد تو با پروردگار خود رفته با کفار جنگ کن" ورق ۱۲/۱، ۲ يـعـنـې "ډيـره ويره ئې په زړونو خوره شوه او وې ونيـل چـې يـه مـوسيٰ مونږ دې قام سره نهٔ شو جنګيدے تهٔ د خپل پروردګار سره ځه او له کافرو سره جنګيږه." ن ح ".....(فاذهب انت و ربك فقاتلا)" يعنې "تو با پروردگار خود رفته بکفار جنگ کن" جلد ۱ ص ۱۲. "تو باپروردګار الخ" د قرآن د الفاظو "فاذهب انت الخ" ترجمه ده.

۶ الف. پينځو سوؤ.

(۷) دغـه جـنـګ هم هغه يو دے چې د کوم د کولو دپاره د جناب موسيٰؑ کليم الله عليه السلام پـه ذريـعـه بـني اسرائيل ته الله پاک امر فرمائيلے وهٔ. (قرآن مائده ۵: ۲۱ ـ ۲۶ او بائبل اعداد بـاب ۱۳: او ۱۴) اګر کهٔ نهٔ خو دا بيان له قرآن پاکه ماخوذ او ورسره مطابق دے او نهٔ د بائبل سره او بيا د قرآن پاک او بائبل بيانونه هم يو شان نهٔ دي خو لانديني خبرې د شک ګنجائش نهٔ پريږدي چې د تاريخ خان جهاني (يا مخزن افغاني) دغه بيان هم د هغې واقعې متعلق دے چې

په سورهٔ مائده ۵: ۲۱ ـ ۲۶ او اعداد باب ۱۳ او ۱۴ کښې مذکور دہ. (۱) حضرت موسیٰ علیه السلام بني اسرائیل ته په مقدسې زمکې کښې د داخلې دپاره چې الله تعالیٰ هغوي دپاره مقرر کړې وه امر وفرمائیلو (قرآن ۵: ۲۱) او بائبل وائي چې خدائے موسیٰؑ ته ووې چې د کنعان د زمکې د لټولو دپاره (یعنې خبر ګیری) دپاره چې ځهٔ لې بني اسرائیل لره ورکوم سړي ولیږه. (اعداد ۱۳ : ۱، ۲) اګر کهٔ کنعان نوم ځنې وخت په هغو علاقو هم حاوي شوے دے چې فینشیا ورته وائي خو په اصل کښې دا یعنې کنعان د فلسطین زوړ او مقامي نوم دے (وګورئ بائبل ویسټ منسټر قاموس) بیا کوم جاسوسان چې لیږلي شوي وو هغوي د دشت زین نه تر رحوبه چې د حمات په لاره کښې دے جاسوسي وکړه او بیا سهیل لوري ته وخاتهٔ او حبرون پورې راغلهٔ او د وادئ اشکول نه لي الګور، انار او اینځر واخست او چې راغلل د هغې زمکې ډیر صفت لي وکړو. وې وئیل چې دا د هغې زمکې میوه ده چې شهد او شودهٔ پکښې بهیږي. (اعداد ۱۳ : ۲۱ ـــ ۲۷ او ۱۴: ۷، ۸ او قرآن پاک ۵: ۱۲) حبرون بیت المقدس (یروشلم) ته نزدې سهیل لوري ته پروت دے او د اشکول وادي د بیت المقدس او حبرون ترمینځه پرته ده. (وګورئ د بائبل ویسټ منسټر قاموس) او د خواجه نعمت الله د بیان له رویه هم دا جنګ د فلسطین د ښارونو الیا، اریحا او بلسا د اخستو دپاره وهٔ نو د فلسطین او کنعان نه هم ارض مقدس مراد ده او لکه چې عرض وشو الیا د بیت المقدس بل نوم دے.

(۲) د قرآن کریم د بیان له رویه دغه وخت په ارض مقدس کښې یو زوررور قام (خصوصاً جبارین) آباد وهٔ. (۵: ۲۲) بائبل وائي چې په حبرون کښې د عناق زامن اخیمان، شیشے او تالمے وسیدل. (اعداد ۱۳ : ۲۲) او جاسوسانو دا خبر هم راوړے وهٔ چې کوم خلق هلته وسیږي ډیر زوررور او ښارونه ئې محکم او په قلاګانو کښې دي او مونږ هورې بن عناق هم ولیدل او په هغه زمکه کښې سهیل لوري ته عمالقه او حطیم، یبوسیان او عاموریان په غرونو کښې وسیږي. او د سمندر په غاړه او د یردن خواؤشا کنعانیان وسیږي. (اعداد ۱۴ : ۲۸ ـ ۲۹) او خواجه نعمت الله هم وائي چې د جناب موسیٰ علیه السلام مقابله عوج بن عنق سره وه. او لکه د نورو تاریخ (او داستان) نویسانو د هغهٔ د غیر معمولي وړدهٔ پسور حال ښیي.

(۳) بني اسرائیل ما سوا له دوؤ تنو له جنګه انکار وکړو او تر دې حده ئې حضرت موسیٰؑ ته ووې چې تهٔ او ستا رب جنګ له ورځئ مونږ به دلته ناست یو. (قرآن ۵: ۲۳ ـ ۲۴) او بائبل هم د بني اسرائیل له جنګه د انکار بیان کوي. (اعداد ۱۴ : ۱ ـ ۴) او د هغو دوؤ کسانو چې الله جل شانه او د هغهٔ د پاک رسول حضرت موسیٰ علیه السلام فرمانبردار وو (چې قرآن ئې

په شان کښې فرمائي "انعم الله علیهما" نوموړی یوشع بن نون او کالب بن یفنه بیانوي. ۱۴ : ۵، ۶) دغه دوه کسان لکه چې تاسو بره ولیدل په دولسو جاسوسانو کښې هم شامل وو او خواجه نعمت الله هم وائي چې بني اسرائیل وویریدهٔ او جناب موسیٰؑ ته ئې ووې چې مونږ له دې قامه نهٔ شو جنګیدلے. تهٔ او ستا خدائے دې ورسره جنګ وکړي. اګر کهٔ دا وروستي الفاظ چې د قرآن د مضمون "فاذهب انت و ربك فقاتلا" مطلب بیانوي په پښتو ترجمه کښې نشته خو لکه چې په تیر نوټ کښې ذکر وشو په ن ز او ن ح دواړو کښې شته.

(۴) علاوه له پورتنو خبرو قرآن حکیم او بائبل دواړو کښې مشترکه خبره دا ده چې د بني اسرائیل د نافرمانی او سرتابی په وجه الله جل شانه په دوي دغه زمکه تر څلویښتو کالو حرامه کړه او د سرګردانه ګرځیدو سزا ئې ورکړه. (قرآن ۵: ۲۶ بائبل اعداد ۱۴ : ۳۳ او ۳۴)

تر څو چې د عوج بن عنق او د هغهٔ د قد او قامت او جسماني اوږدهٔ پسور او د حضرت موسیٰ علیه السلام له دست حق پرسته د قتل کیدو او د هغو مبارکو د مبارکې ونې، د عصائے معجزنما د طول او توپ تعلق دے د دیو خبرو مطلقاً هیڅ سند نشته او هر کله چې د قرآن مجید او فرقان حمید د صریح بیان نه ثابته ده (او اګر کهٔ په موجودګی کښې ئې د بل هیڅ قسم شهادت ضرورت نشته خو بائبل هم دغه بیان کوي) چې بني اسرائیل جنګ ونهٔ کړ نو د عمالقه د قتلیدو او بندي کیدو څهٔ امکان وهٔ.

بله دا چې عوج بن عنق کافر وهٔ او کهٔ دې د حضرت نوح علیه السلام په طوفان کښې موجود وهٔ نو د طوفان له عذابه څنګه خلاص شو؟ هغهٔ قادر مطلق جل شانه چې دهٔ لره دومره وچعه ونه وروکړې وه (کهٔ ئې په واقعه کښې ورکړې وه) نو اوبهٔ ئې هم د دهٔ له سره اوړلے شوے. د جناب نوح علیه السلام کافر زوي هم وئیلي وو چې زهٔ به په غرهٔ وخیژم له اوبو به مې وژغوري (یعصمنی من المآء) خو هغو مبارکو ورته وفرمائیل "قال لا عاصم الیوم من امر الله الا من رحم و حال بینهما الموج فکان من المغرقین" یعني هغهٔ (ورته) ووې چې نن د الله له امره ژغورونکے نشته بې له دې چې هم هغه په چا مهربانه وي او یوه چپه ئې تر مینځه شوه او هغه (د نوحؑ کافر زوے) له ډوبیدونکو څخه وهٔ." قرآن ۱۱ : ۴۳) نو څهٔ عوج او څهٔ د هغهٔ ونه چې به ئې د خدائے تعالیٰ له امره ژغورلے وهٔ.

بله دا چې خواجه نعمت الله د کتاب له مضمونه او سیاقه سباقه ئې جوتیږي چې عوج هم له بني عمالقه ؤ څخه وهٔ. حال دا چې د حضرت نوحؑ په وخت کښې د عمالقه د وجود سوال نهٔ پیداویږي. عمالیک یا عمالیق خو د حضرت اسحق علیه السلام د زوي عیسو یا عیص زوے وهٔ او عمالقه د هغهٔ له نسله دي.

غالب گمان دا دے چې بنو عناق عناقيم (لکه چې عربي جمع په اخر کښې نون نو عبراني جمع م غواړي) هم لکه د عمالقهٔ حطيم، عموديانو وغيره هم يو قام وهٔ او غالباً چې اخيمان، شيشے او تالمے ئې څانګې يا قبيلې وے. د قاضيان ۱ : ۱۰ له رويه د يوشع بن نون چې د جناب موسیٰ عليه السلام د وصال نه پس (د جناب هارون عليه السلام د جناب ممدوحٌ نه وړاندې وصال شوے وهٔ) د بني اسرائيل قائد وهٔ د وفات نه هم پس شيشے، اخيمان او تالمے د بني اسرائيل له لاسه قتل شوي وو. د قاضيان دغه بيان هم د عناقيم په حقله د بره ظاهر شوي خيال مرسته کوي. والله اعلم بالصواب.

ص ۱۹

د سرګردانه ګرځيدو سزا د برصيصا يا بلعم باعور (بلعم بن باعور) د بنيرې نتيجه نهٔ وه بلکې لکه د ص ۱۸ په اخرې نوټ کښې د قرآن حکيم او د بائبل د بيانونو په رڼا کښې وضاحت وشو د جهاد في سبيل الله د الله پاک او د هغهٔ د پاک رسول حضرت موسیٰؑ د امر نه د روګرداني او سرتابۍ نتيجه وه. په دې کړاؤ کښې ورسره د حضرت موسیٰؑ او حضرت هارون عليهما السلام او د دوؤ منعم عليهما د شرکت حکمت داسې وهٔ لکه چې په يوې وبا وهلے علاقه يا بناريه کښې د طبيبانو، ډاکټرانو او نورو صحت مندو افرادو وي. سره د دې چې بني اسرائيل د عتاب الٰهي موردان شول خو په جناب موسیٰ عليه السلام د رسالت او نبوت د ارشاد او هدايت فريضه او په جناب هارون عليه السلام هم په دې کار کښې په حيثيت د نبيءِ وزير دغه وظيفه عائده وه او هغه منعم عليهما ئې د خپل منصب او درجې تر حده په دې عظيم کار کښې ملګري وو. (وګورئ د مولانا شبير احمد عثماني صاحب مرحوم حاشيه د حضرت شيخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب مرحوم په ترجمې د قرآن مجيد سورهٔ مائده آيت ۲۶) دلته به دا بښينه هم بې ځايه نهٔ وي چې يهود او نصاریٰ يو خوا خو جناب هارونٌ د بني اسرائيل امام او د جناب موسیٰ عليه السلام مختار مني او بل خوا د بائبل د بيان چې سراسر بهتان دے په بنا دا عقيده هم لري چې کوم خسي په وجه چې بني اسرائيل په شرک کښې مبتلا شوي وو هغه (خاکم بدهن) حضرت هارونٌ جوړ کړے وهٔ. (خروج ۳۲: ۱ ـ ۵) قرآن پاک د دې الزام رد کړے دے.

د برصيصا يا بلعم څهٔ حيثيت او اوقات چې د هغهٔ د بنيرې د لتيجې په طور به د هغهٔ عظيم المرتبت او جليل القدر رسول جناب موسیٰ کليم الله عليه السلام په امت دغه ګراني سختې وارديدے.

په ن ز او ن ز کښې برصيصا له کافرو ځنې او په پښتو ترجمه کښې "په هغه قوم

کېښي" ياد شوې دې. يعني له هغه قامه چې چا سره جنګ وه او هر کله چې هغه قام کافر وه نو ګويا پښتو ترجمه کېښي هم کافر ياد شوي دي. په ن ز او ن ح کېښي برصيصا سره په متن کېښي دا نشته چې بلعم باعور هم ورته وائي. بناغلي امام الدين صاحب (ن ح جلد ۱ ص ۳۳ حاشيه ۳) د بانکي پور خدابخش لائبريرى د نسخې په حواله د متعلقه ځائې دا عبارت نقل کړې دې. "زاہد برصیصا نام وبقول بلعم باعورواضح قول ہانست" او د مخزن د يوې نسخې په حواله ئې "برصيصا ما بلعم" کېښلي دي. ګوندي "برصيصا يا بلعم" وي او غالباً چې د پښتو ترجمې کونکي په مخکښې هم د دغه قسم عبارت لرونکې نسخه وه. او هم په ياده شوې حاشيه کېښي چې د روضة الصفا کوم عبارت نقل شوې دې په هغه کېښي راغلي دي "برصیصا غیراز بلعم است" د ډورن په ترجمه (ص ۱۳) کېښي بلعم بن باعور کېښلي دي. او تعليقاتو (ص ۲۰) په تسلسل د صفحاتو د حصه ۲) کېښي ئې د طبري په حواله بلعام باعور ليکلي دي.

په بائبل زړې او نوې خصوصاً زړې عهدنامې کېښي د بلعام Balaam بن بعور Beorذکر ډېر ځايه راغلې دې. چې له رويه ئې بلعام د دجلې او فرات د دو آبې (ارام نهريم Mesopotamia د ښهر پېټور Pethor وسيدونکې وه. (استثنيٰ ۲۳: ۴) او يو کاهن او نجومي وه. (يشوع ۱۳: ۲۲) د اسرائيلياتو له رويه بلعام د مواب د باچا بعلک په لمسون د يوې ډيرې لويې معاوضې په بدل بني اسرائيل ته ښيره کول قبول کړل خو خدائې پاک د ښيرې په ځائې د ده له خلې د خير دعا وويستله. (يشوع ۲۴: ۹ او ترې وروميې استثنيٰ ۲۳: ۴) اخر ده بعلک ته د بني اسرائيل په شرک او بدعملۍ کېښي د مبتلا کولو د کوشش تجويز وکړ په دې تجويز عمل وکړې شو او هم دغه وجه وه چې اخر د مدين په جنګ کېښي د نورو ډېرو کفارو سره ووژلې شو. (اعداد ۳۱: ۸ ـ ۱۶، يشوع ۱۳: ۲۲ او نوې عهدنامه کېښي د يهوداه عالم خط: ۱۱ او د يوحنا عارف مکاشفه ۲: ۱۴)

۲. د کالب د پلار نامه په ن ز ورق ۱۳/۱ کېښي او ن ح کېښي برقيا ورکړې ده او فاضل محشي د تاريخ خان جهاني د مختلفو نسخو په حواله برقنا، برقيا، بوقنا، يرقنا او د مخزن په حواله برقنا بن الفراهم او د طبري او تاريخ ګزيده په حواله په ترتيب برقيا او برقا ليکلې دې صحيح يفنه، يوفنه يا يوفنا ده.

لکه چې خواجه نعمت الله د يوشع او کالب شجرې ورکړې دي نو غالب ګمان ترې هم دغه کيږي چې ګوندې د هغۀ په نزد د ترونو زامن او د بني اسرائيل له افرائيمي قبيلې ځني وو. خو د اعداد (۱۳: ۶) له رويه کالب د يهودا له قبيلې وه. په حقيقت له قنيزيانو (چې غير اسرائيلي خلق وو) ځني وه. خو د دې قبيلې افراد د حضرت يعقوب عليه السلام زامنو سره

متحد شول او د کالب پلار یفنه د یهودا له قبیلې یوې جل سره وادهٔ کړے وهٔ (ویسټ منسټر قاموس) تر څو چې د یوشع تعلق دے نو هغه افرائیمي وهٔ. (اعداد ۱۳: ۸) او په بني اسرائیل کښې د افرائیم قبیلې مورث د حضرت یوسف صدیق علیه السلام زوے افرائیم وهٔ.

په قرآن حکیم کښې د الیسع په نامه یو نبي یاد شوے دے علیه السلام. خو مونږ په یقین د دې نامې تطبیق نهٔ خو د بائبل یوشع (یا یشوع) او یسعیاه سره کولے شو. له دواړو د هر یوهٔ په نامه یو کتاب په زړه عهدنامه کښې شته. مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۲ ص ۳۳) چې د ابن عساکر په حواله د حضرت الیسع علیه السلام کومه شجره (الیسع بن عدي بن شوتم بن افرائیم بن یوسفؑ الخ ورکړې او بناغلي امام الدین صاحب (ن ح جلد ۱ ص ۳۵ حاشیه ۳) چې د تاریخ گزیده په حواله د یوشع کومه شجره (یوشع بن نون بن السناح بن عمهور بن لیدان بن شوسلح بن افرائیم بن یوسفؑ الخ) ورکړې ده او چې مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۲ ص ۱۰) او څنګه چې خواجه نعمت الله د یوشع سلسلهٔ نسب بنودلے دے نو د دغو شجرو له رویه یوشع او حضرت الیسع دواړه افرائیمیان وو خو دغه شجرې نهٔ خو قطعي او یقیني دي بلکې قیاسي او تخمیني او اختلاف لرونکي دي. او بیا د دوؤ کسانو له یوهٔ قامه یا قبیلې او د نامو ئې سره د مشابه کیدو ارومرو دا نتیجه نهٔ شي کیدے چې ګنه هغوي هم یو شخصیت وو. مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم د یوشع بن نون او د حضرت الیسع علیه السلام ذکر په طور د نبیانو بیل بیل کړے دے او د یوشع بن نون په احوال کښې ئې دا هم کښلي دي (ص ۱۰) چې په سورهٔ کهف کښې د حضرت موسیٰؑ د کوم څلمي ملګري ذکر دے (چې کوم وخت هغو مبارکو د حضرت خضر د ملاقات دپاره تشریف وړلو) د حضرت ابي بن کعبؓ نه د منقول یوهٔ روایت له رویه د آنجناب د دغه څلمي رفیق نامه یوشع بن نون وه. اګر کهٔ په قرآن پاک کښې چې د جناب کلیم الله علیه السلام کوم دوه فرمانبردار امتیان په صدق او اخلاص مسلمانان چې د خدائے په لاره کښې ئې له جهاده اوګورو خان بنندلو ژغورنه نهٔ کوله او خدائے پرې د خپل انعام ذکر کړے دے له هغو د یوهٔ نامه د بائبل له رویه یوشع وه. او د آنجناب علیه السلام د وصال نه پس چې چا د هغو مبارکو د خلافت او د بني اسرائیل د قیادت فرائض تر سره رسولي وو هم دغه یوشع وهٔ. بلکې آنجنابؑ د دې دنیا نه د تشریف وړو نه اګاهو دغه فرائض یوشع ته تفویض کړې وو. (اعداد ۲۷: ۱۸ ـ ۳۳)

د یوشع کتاب د پنځ ګنج برخه ګڼلے شي او هغهٔ او دهٔ ته یو ځائے د شش کتاب Hexateuch هیکساټیوک نامه اخستلے شي خو آیا بې د قرآن یا د صحیح حدیث د واضح

شهادت نه به چاته نبي وئيل محفوظه خبره وي؟ اګر کهٔ حضرت مولانا صاحب ممدوح مرحوم چې په خپل قابل قدر، عظيم او وقيع تاليف (قصص القرآن) کښې څهٔ ليکلي دي په قرآن شريف او په معتبرو او صحيحو احاديثو مبني دي او يا ئې د قطعي شهادت د فقدان په صورت کښې اساس ډير مضبوط او قوي قرائن دي. خو په هر صورت بې د قرآن شريف يا د حديث صحيح د واضح شهادت محض د قياس او قرائنو له قبله کهٔ هر څو مضبوط او قوي وي چاته د نبي يا رسول وئيلو په مقابله کښې به ئې سکوت غوره وي. او ذا دليل به ورته د نبي يا رسول وئيلو دپاره کافي نهٔ وي چې هر کله د يهود و نصارئ ؤ په کتابونو کښې چاته پيغمبر وئيلے شوے وي او په قرآن کښې ئې رد نهٔ وي نو په پيغمبر منلو کښې ئې هيڅ باک نشته ځکه چې دغه کتابونه د قرآن شريف د نزول په وخت کښې موجود وو او په مندرجاتو ئې الله پاک عالم وهٔ نو کهٔ پکښې چا ته په غلطه نبي وئيلے شوي وو نو ترديد به ئې شوے وهٔ اول خو په قرآن پاک کښې چې ترې علاوه په نامه د کومو اسماني کتابونو ذکر دے توريت، زبور او انجيل دي. په ترتيب حضرت موسیٰ، حضرت داؤد او حضرت عيسیٰ عليهم السلام ته ورکړے شوي وو. وړومبي دوه کتابه توريت او زبور په زړه عهدنامه کښې شامل دي او لکه چې وړومبے وضاحت شوے دے توريت د زړې عهدنامې په وړومبيو پينځو کتابونو مشتمل دے. انجيل يا اناجيل په نوې عهدنامه کښې دي. نو اوّل خو په بائبل کښې د چا په حيثيت د پيغمبر نامه يا ذکر راتلل د دې خبرې دليل نهٔ شي کيدے چې هغه په هغه کتابونو کښې په دې حيثيت ياد شوے دے چې زمونږ د عقيدې له رويه موسوم او معلوم اسماني کتابونه دي. په قصص القرآن کښې ډير ځله د توريت لفظ د زړې عهدنامې دپاره استعمال شوے معلوميږي. يوهٔ داسې کتاب ته چې په پنځ کتاب کښې نهٔ دے شامل د حوالې په وخت د توريت نامه اخستې شوې ده. ګوندې سهو يا د کتابت غلطي وي. علاوه له دې مونږ ته دا هدايت دے چې د اهل کتاب يهودو او نصارئ ؤ د کتابونو د بياناتو د تصديق او تکذيب نه ځان وژغورو او دا هم د هغه خبرو په حقله دے چې د کومو له قرآنه يا حديثه تائيد يا ترديد نهٔ کيږي. کهٔ د الله جل شانه يا د جناب رسالتمآب ﷺ له طرفه تائيد يا ترديد وے نو بيا خو د تصديق يا تکذيب نه د ځان ژغورلو هڅو سوال نهٔ پيدا کيدو. هر کله چې د الله تبارک و تعالیٰ د حکمت تقاضا دا وه چې د سيد المرسلين خاتم النبيين حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ نه وړومبو تيرو شوؤ انبياؤ او مرسلينو کښې ځنې هغه ذات بابرکات ﷺ ته ونومي او ځنې نه نو د نا نومولو شوؤ په حقله به محفوظه لار هم دغه وي چې مونږ ئې هم د نومولو دپاره له تحقيقه او تجسسه ځان وژغورو. ګنه د قرآن حکيم له رويه په خلاف د يهودو او نصارئ ؤ د عقيدې

چې هغوي آسماني هدايت تر بني اسرائيل محدود كړے دے په هر قام او ملک کښې د حضرت سرور کونين رسول الثقلين ﷺ نه وړومبے د الله تعالیٰ استاځي راغلي دي. نو كۀ مونږ د نا نومولو شوؤ پيغمبرانو په حقله سکوت غوره نۀ کړو د تحقيق او تجسس سلسله به ډيره وړده او بې قابو شي. والله اعلم بالصواب.

پاتې شوے داسې خبرې چې عقائدو سره هيڅ تعلق نۀ لري او خالص د تاريخي نوعيت وي او په قرآن شريف يا حديث کښې د هغو په حقله هيڅ نۀ دي راغلي موافقت يا مخالفت ئې ترې نۀ کيږي نو كۀ څوک د بائبل د بياناتو د نظر وړاندې د هغو خبرو په حقله يوه يا بله رائې لري نو باک به ئې نۀ وي.

مونږه عرض وکړ چې مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم د يوشع او حضرت اليسع عليه السلام ذکر بيل بيل کړے دے. هغوي حضرت اليسعؑ او يسعياه ته هم يو کس نۀ دي وئيلي خو د حضرت اليسعؑ په ذكر (جلد ۲ ص ۳۳) کښې د هغوئ د شجرې بيانولو نه پس فرمائي ''اوراگرتوراۃ کے یسعیاہ نبی اور حضرت الیسع ایک ہی شخصیت ہیں تو تورات نے ان کو عموص کا بیٹا بتایا ہے۔'' يعني ''او كۀ د توريت يسعياه نبي او حضرت اليسع هم يو شخصيت وي نو توريت هغوي د عموص زوے بنئيلي دي.'' دلته هم د توريت ذکر د يسعياه د کتاب دپاره استعمال شوے دے. په زړې عهدنامه کښې ''د يسعياه نبي کتاب'' کښې د يسعياه دپاره نامه عموض يا عموص Amox راغلې ده. (يسعياه ۱ : ۱) د هغوي زمانه د حضرت عيسیٰ عليه السلام نه تقريباً اووۀ نيم سوه کاله وړاندې تاكلے شوې ده. د يسعياه والد د عموس يا عموص نه چې په زړه عهدنامه کښې ئې په نامه کتاب شامل دے جدا سړے دے. د دغه عموص زمانه هم د حضرت عيسیٰ عليه السلام له بابرکته عهده تقريباً اووۀ نيم سوه کاله اګاهو (د يسعياه له وخته څۀ لږه وړاندې) وه. يسعياه او عموس دواړه صاحبان د عزياه بادشاه په وخت کښې ياد شوي دي. (يسعياه ۱ : ۱ او عموس ۱ : ۱ او د بائبل ويسټ منسټر ډکشنريIsaiah او Amox) دغسې د جناب کليم الله مبارک عهد د دوي نه تقريباً پينځۀ شپږ سوه کاله اګاهو دے. (وګورئ د ص ۱۷ نوټ ۲)

په هر حال د هغو کسانو په حقله چې په بائبل يا د اهل کتاب په نورو آثارو کښې پيغمبران ياد شوي دي او د قرآن او صحيح حديث شهادت ئې په تائيد کښې نشته د ادب او احترام سره سکوت اختيارول پکار دي بلکې د هر ملک او ملت د مذهبي مشرانو د يادو شوؤ حدودو دننه عزت او درناوېنت پکار دے. خو د هغو په حقله به دا قاعده او اصول نۀ حاوي کيږي چا چې د حضرت سرور دوعالم خاتم النبيين سيد المرسلين حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ د بعثت نه پس دين روان کړے يا د رسالت يا نبوت دعوي ئې کړے وي او نۀ د هغو په حقله چې

کۀ د حضرت سرور دو عالم ﷺ نه وړومبے هم تیر شوي وي خو د قوي او مضبوطو شواهدو او دلائلـو له رویه ئي غیر مسلم کیدل ثابت یا اغلب وي. په داسي حالت کښي به د خپل دین حفاظت سره سم د انساني جذباتو لحاظ او د معاشرتي د امن خیال سائل مناسب او غوره وي.
دلته به دا وضاحت هم ضروري وي چي لکه په حضرت سرور کائنات ﷺ د هر قسم نبوت او رسالـت ختم شـو او د هغوي د بعثت نه پس د بل چا کۀ په هر حیثیت کښي هم وي نبي یا رسـول منـل کـفـر وي. نو دغسي د هغۀ مبارک سرور ﷺ د بعثت نه وړومبے او د حضرت عیسیٰ علیه السلام له دي دنیا نه د تشریف وړلو نه پس هم څوک نبي یا رسول نۀ دے تیر.

صـ ۲۰

تر څو چي د حضرت ذوالکفل علیه السلام تعلق دے د هغويٌ ذکر صرف د نامي (یا لقب) پـه اخستـو د ځـنـو انبیاؤ علیهم السلام [حضرت اسمٰعیلؑ او حضرت ادریسؑ (سورۀ انبیاء)او حـضـرت اسـمٰعیلؑ او حضرت الیسع (سورۀ ص)] سره شوے دے. او علاوه له دي د آنجنابؑ په حقله مونږ څخه د قرآن عزیز یا صحیح حدیث په بنا هیڅ معلومات نشته.

مولانا حفظ الرحمٰن صاحب فرمائي "او د ځنو معاصرینو دا خیال دے چي ذوالکفل د حـزقیـل (عـلیه السلام) لقب دے او د یوۀ بل عجیبه رائ دا ده چي ذوالکفل د گوتم بدهـ لقب دے. ځکـه چي د دۀ دارالسطنت نامه کپل ده چي کفل ئي معرب دے او په عربی کښي "ذو" د صـاحـب او مـالـک دپـاره راځـي. نـو دي دپـاره د مـال د خـاوند دپاره "ذومال" او د ښار د څښتـن دپاره "ذوبلد" په کثرت سره استعمالیږي. له دي قبله دلته هم د کپل څښتن او مالـک تـه ذوالـکـفـل وئیلے شوي دي. ستائیلي معاصر دا دعویٰ هم کړي ده چي د گوتم بدهـ اصلي تـعـلیم توحید او هم د اسلام تعلیم وۀ او اوسنے شکل او صورت ئي د نورو دینونو او ملتونو په څیـر مسـخ شوے او محرف دے. خو دا اقوال له تاریخي حیثیته له تخمیني رائ گانو سیوا نور هیڅ حیثیت نۀ لري. (قصص القرآن جلد ۲ ص ۲۲۹)

مـولانا عبدالرشید صاحب نعماني (لغات القرآن جلد ۳ ذالکفل) د حضرت ذوالکفل عـلیـه السـلام په باب فرمائي "په قرآن مجید کښي د دوي ذکر د انبیاء علیهم السلام په زمره کښي دوه ځایه راغلے دے. خو دواړه ځایه صرف نامه اخستے شوي ده او د حالاتو ئي اجمالي یا تـفـصیـلـي هیـڅ تـذکـره نـۀ ده کړلے شوے. دغسي د جناب رسالتمآب ﷺ نه هم په دي سلـسـلـه کښـي هیـڅ نـۀ دي روایـت شـوي. قـرآن د دوي په حقله له صابرینو، صالحینو او د اخیـارو ځـنـي کیـدو شهـادت او په رحمت الٰهي کښي د داخل کړلے کیدو شهادت ورکړے دے. عـالـم انسـانـي دپاره د چا په سیرت کښي علاوه له دي د بل څۀ څیز معلومولو ضرورت

دے؟"

۲. کهٔ ذوالکفل هم د حزقیل لقب وي نو د حزقیل زمانه د شموئیل نه ډیره وروستو ده ځکه چې شموئیل د یروشلم د سقوط نه ډیر وړومبے تیر شوي دي. او حزقیل د سقوط د واقعې په وخت او تـرې وروستـو هم ژوندي وو. (بائبل ویسټ منسټر قاموس مقالې حزقیل Exekiel او بخت نصر Nebuchadnezza) پـه زړه عهـدنامه کښې د شموئیل دوه کتابه په نهمه او لسـمـه او د حزقیل کتاب په شپږ ویشتمه ګڼه راځي او د بائبل په ویسټ منسټر قاموس کښې شموئیل ته د موسیٰ علیه السلام نه پس د عبرانیانو له ډیرو نرغونو انبیاؤ ځنې وئیلې شوي دي. (وګورئ مقاله شموئیل Samuel)

اشـمـوئیـل یا شموئیل عبراني نوم او اسماعیل ئې عربي شکل دے. شموئیل د بائبل د بیـان لـه رویـه د کـوهستـان افـرائیـم د یـوهٔ سړي القانه بن یروحام بن الیهو بن توحو بن هنوف ایـفـراتـي زوے وهٔ. مور ئې حنه نومیده. (شموئیل وړومبے کتاب ۱ : ۱ ـ ۲۰) او القانه د لاوي بـن حـضـرت یـعـقوبؑ اسرائیلي له نسله یاد شوے دے. (تاریخ وړومبے کتاب ۶ : ۱ ـ ۳۸ او د بائبل ویسټ منسټر قاموس مقاله القانه Elkanahپه شموئیل ۱ : ۱ کښې د یروحام د پلار نوم الیهو Elihuاو په تاریخ ۶ : ۳۴ کښې الي ایل Elielیاد شوے دے.

مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۲ ص ۳۷) د شموئیل نسب نـامـه د روح المعاني په حواله "شموئیل بن حنه بن عاقر" لیکلې ده. او فرمائیلي ئې دي چې له دې بـره کـړی نشتـه. د مقاتل په حواله ئې شجره اشموئیل بن بالي بن علقمه بن یرخان بن یهو بن تهو بن صوف بن عقلمه بن ماحث بن عموث بن عزایاه کښلې ده. ایضاً.

اوس چې تـر څو د حنه تعلق دے نو دغه بي بي خو د شموئیل والده ده بالي غالباً یالي او د بـائبل هیلي دے چې په شیلا کښې د ملایانو، کاهنانو پلار وهٔ. (شموئیل ۱ : ۳، ۱۲ـ ۲۰) دغسـې عـلـقمه، یرخام، یهو، تهو او صوف د بائبل القانه، الیهو، توح، او ضوف لیدهٔ شي. او د صـوف آبا علقمه او ماحث او عموث او عزایا (لکه چې د قصص القرآن جلد ۲ ص ۳۷ کښې یاد شوي دي. د تاریخ ۶ : ۳۵ القانه محاله یا محث او اماسي یا عماٸي وي. خو د عماٸي د پلار نـامـه بیا القانه او د هغهٔ د پلار او نیکهٔ نامې یو ایل او عزریا لیکلي دي (ایضاً ۶ : ۳۶) ګوندې د مـقـاتـل د روایـت عـزایـا او عـزریا هم یو کس وي. بناغلي امام الدین صاحب د ن ح په متعلق څـائـے ص ۳۷ پـه حـاشیـه کښـې کښلـې دي چې د ایشیا ټک سوسائټي کلکته په نسخه او مـخـزن کښـې د "دیـان بـن عـلقمه" په ځائے "ریان بن علقمه" دے. (په ن ز کښې هم "ریان" دے) د کـلـکتې د نسخې او د مخزن د حوالې نه پس بناغلے امام الدین صاحب د تاریخ ګزیده

جلد اول ص ۱۵ په حواله د شموئيل شجره داسې ليکي. شموئيل بن هلقاسا بن روهام بن هود بن صوف بن القاما بن لوامل بن عروسا بن ضيا بن محث بن اشث بن اثاف بن قارون بن لصهار بن قماث بن لاوي بن يعقوب عليه السلام" او د روضة الصفا جلد اول ص ۱۱۳ په حواله ليکي چې "مادر اشموئيل حنه و پدرش بلقان بود و در خانه امام وقت پرورش يافت" يعني د اشموئيل مور حنه او پلار ئې بلقان وۀ او د وخت د امام په کالۀ کښې ئې روزنه بيامونده. مولانا حفظ الرحمٰن صاحب چې کومې شجرې ورکړې دي د هغو د نامو مونږ د بائبل نامو سره تر يو ايل او عزريا مقابله وکړه نو اوس د تاريخ گزيده نامې څيرو عماسا بن القامه عمائي بن القانه او لوامل او عروسا، يو ايل او عزريا ليدۀ شي. بيا ضيا د تواريخ ۶ : ۳۶ ضفنياه، صفنياه Zephaniah او فحث د ۶ : ۳۷ تحث Tahath بنکاري. خو په تاريخ گزيده کښې لکه چې ئې د ن ز په ياده شوې حاشيه کښې نقل شوې دے د فحث پلار اشث ياد شوے دے او ۶ : ۳۷ کښې اسير، اسِر Assir نومولے شوے دے. د تاريخ گزيده ابي ثاف د ۶ : ۳۷ Ebiasaph ابي ثاف يا ابي آصف (اردو ترجمه ابي آسف) دے. او قارون د ۶ : ۳۷ Korah قورح يا قارون دے. او لهصار د ۶ : ۳۸ Izhar اضهار دے خو د پلار نوم ئې په ځائے د قماث Kohath قهاث دے چې د لاوي بن يعقوب عليه السلام زوے (هم لکه د تاريخ گزيده) ياد شوے دے.

دلته بيا دا سوال پورته کيږي چې د القانه زوے شموئيل نومې څوک نبي تير شوي دي کۀ نه؟ بائبل وائي چې د دوي (د شموئيل) د عهد نه وړومبے د بني اسرائيل حالت خراب وۀ. کفارو پرې ډير تجاوز کړے غلبه ئې پرې موندلے وه او تابوت سکينه ئې ترې هم وړے وۀ. دوي د خدائے تعالىٰ په امر ساؤل د قيس زوے Soul son of Kish د بني اسرائيل بادشاه مقرر کړ او د دۀ د بادشاهت نه وړومبے په مافوق العاده يا غير معمولي طريقې د بني اسرائيل او کفارو د مقابلې نه وړومبے تابوت سکينه بني اسرائيلو ته ورسيد (دغه معجزانه طريقه په قرآن عزيز کښې هل شان او په بائبل او د خواجه نعمت الله په تاريخ کښې سره يو شان په بل ډول ليکلې ده. علاوه له دې د قرآن د بيان له رويه تابوت د بني اسرائيل د بادشاه د تقرر په حقله د خواست او د هغۀ د تقرر د اعلانه وروستو په طور د هغۀ د بادشاهي د آيت ورسيدۀ. او د بائبل د بيان له رويه له خواسته او تقرره وروستو رسيدلے وۀ.) د کفارو سره په جنګ کښې د ساول د قيادت لاندې بني اسرائيل برے وکړ او په جنګ کښې د کفارو مشر جالوت د داؤد عليه السلام له لاسه قتل شۀ.

د قرآن عزيز د بيان (سورۀ بقر) حاصل هم (قطع نظر د تفصيلاتو له بيلتونه) د واقعاتو په حقله هم دغسې دے. البته د نبي نامه نۀ ده اخستې شوے او هغه مبارک په خپل عالي

منصب نبوت یعني د نبي په حیثیت یاد شوي دي. او بادشاه د طالوت په نامه یاد شوے دے.

د واقعاتو په حقله د قرآن عزیز او د بائبل د بیانونو د یاد شوي مطابقت په بنا او له دې قبله چې په بائبل کښې د دغو واقعاتو سره د متعلق نبي نامه شموئیل یا اشموئیل یاده شوې ده مونږ دا نتیجه نهٔ شو راویستے چې په قرآن حکیم کښې کوم نبي د دغو واقعاتو په ضمن کښې یاد شوي دي في الواقع د هغوي اسم مبارک هم شموئیل وهٔ. مونږ په دې باره کښې وړومبے هم خپل موقف واضح کړے دے. (ص ۱۹ نوټ ۲) او دلته دومره نور عرض کوؤ چې د بائبل د بیان د لوستو نه پس د قرآن کریم د ارشاداتو په رڼا کښې مونږ دا خو یقیناً وئیلے شو چې کوم سړي د بحث د لاندې واقعاتو کښې د بني اسرائیل دپاره بادشاه مقرر کړے وهٔ کهٔ د هغهٔ مبارک سړي نامه شموئیل وه نو شموئیل نبي وهٔ. ځکه چې قرآن مونږ ته فرمائي چې دغه تقرر یوهٔ نبي د خدائے تعالیٰ په امر کړے وهٔ. خو محض د بائبل په سند مونږ دا نتیجه نهٔ شو ایستلے چې د هغه نبي نامه شموئیل وه. قرآن پاک مونږ ته د هغهٔ مبارک نامه نهٔ ده ښئیلے نو مونږ دپاره هم په دې حقله سکوت غوره دے.

اګر کهٔ مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم هم د دغه نبي (علیه السلام) نامه مبارکه هم شموئیل ګڼلې ده او د دې نامې لاندې ئې پرې په قصص القرآن جلد ۲ ص ۳۵-۵۴) کښې باب لیکلے دے خو په ډیر ادب او احترام عرض کوم چې ممدوح مرحوم پخپله کوم معیار په دې حقله ټاکلے دے هغه د دې خبرې اجازت نهٔ ورکوي. ممدوح مرحوم په حضرت ذوالکفل علیه السلام لیکلي شوي باب (ایضاً ص ۲۲۵ - ۲۳۳)د هغو مبارکو او د ګوتم بدهـ د یو ګڼلو په حقله مزید فرمائي. (وګورئ نوټ ۱ ص ۲۰) (ص ۲۳۱.....تر کومه چې د قرآن او حدیث صراحت نهٔ وي یا بیا د تاریخ له صحیحو دلیلونو او برهانونو ثابته نهٔ شي چې ذوالکفل د ګوتم بدهـ لقب وهٔ نو محض له ظنه او تخمینه دا نهٔ شي منلے کیدے ځکه چې څنګه د چا نبي، نبي نهٔ منل د کفر لار ده نو دغسې د چا غیر نبي، نبي منل هم باطل دي." نو لکه چې مونږ عرض وکړ کوم بزرګوار چې د بحث د لاندې زمانه کښې د الله پاک په هدایت او امر د بني اسرائیل بادشاه مقرر کړے هغه مبارک بزرګوار بیشکه چې نبي وهٔ یا په نورو الفاظو کښې چا چې په زیر بحث زمانه کښې د بني اسرائیل دپاره بادشاه مقرر کړے وهٔ کهٔ د هغوي نامه شموئیل وه نو شموئیل نبي وهٔ. خو مونږ سره د دغې خبرې څهٔ ثبوت یا کوم تاریخي دلیل یا برهان دے چې د بادشاه د مقررولو دغه وظیفه شموئیل نومې سړي ادا کړې وه. اول خو به دا عرض وکړم چې په دې باره کښې چې معتقدات سره تعلق لري بې د قرآن او حدیث صحیح له واضحه شهادته هیڅ تاریخي دلیل یا برهان کهٔ هر څو قوي هم وي یا بل

څهٔ زمونږ د موقف اساس نهٔ شي کيدے. ولې چې يقيني او قطعي علم صرف وحي او د مهبط وحي شهادت دے او د ديو په مقابله کښې بل هر علم کهٔ منقول او کهٔ معقول (خواه نظري او خواه تجربي) ظني او تخميني دے. بيا مونږ سره د غور د لاندې خبرې دپاره دليل يا برهان څهٔ دے؟ محض د زړې عهدنامې بيان او هغه هيڅکله د تاريخي دليل يا برهان حيثيت نهٔ شي لرلے. په بائبل په حيثيت د يو تاريخي، مذهبي او اخلاقي کتاب مونږ ورومبے څهٔ خو تفصيلي بحثونه کړي دي او دلته په دومره عرض کولو اکتفا کوؤ چې کهٔ يهودو په حضرت نوحؑ، حضرت لوط، حضرت يعقوب، حضرت هارون عليهم السلام (عياذاً بالله) د دروغو هغه الزامات چې ورومبے ئې ذکر او پرې انتقـاد وشو لګولے شو او د حضرت داؤد عليه السلام او حضرت سليمان عليه السلام مبارک نومونه ئې (معاذاً بالله) د انبياؤ له فهرسته ويستے او په شان کښې ئې ډيرې ګستاخانه او شرمناکې افترا پردازۍ او بې ادبۍ کولے شوے (او د هغو چې نبيان ئې منل په شان کښې ئې کولے نو د دوي په شان کښې ئې له کولو څهٔ باک کيدے شي نو دا ئې هم کولے شو چې د يوهٔ په ځائے ئې بل نبي ياد کړے يا نبي ئې په ځائے د خپلې اصلي نامې په فرضي نامې ياد کړے وے. په هر حال باوجود د يهودو د کردار او نامه اعمال الله بهتر عالم ده او په فحوا د "لا علم لنا الا ما علمتنا" مونږ په هيڅ سوا له هغه څهٔ چې الله تبارک و تعالیٰ پرې پوه کړي يو نهٔ يو پوه. نو کهٔ د بحث د لاندې عهد کښې کوم بزرګوار چې د بني اسرائيل دپاره د الله په هدايت او امر بادشاه مقرر کړے وهٔ کهٔ شموئيل نوميدهٔ نو په حضرت شموئيل او د هغوې په آل او اصحاب صلوٰة او سلام څکه چې قرآن د دغې وظيفې ادا کونکي ته نبي وئيلي دي.

۳. ن ز ۲/۱۴ ن ح جلد ۱ ص ۳۸ قوې بنيا او حاشيه ۲ کښې د څلورو مختلفو نسخو په بنا بيساتا، بساتا او بليا نامې ليکلي دي.

ص ۲۱

ن ز ۱/۱۵ .... عمامه ونعلين وعصاء هارون کهٔ از چوب بادام بود يک قفيز من وسلوىٰ تيه درآن تابوت بود. يعني دستار او پيزار او همسا د هارونؑ چې د بادام د لرګي وه او يوه پيمانه د تيه (د بيابان) د من و سلوىٰ په هغه تابوت کښې وه. ن ح ص ۳۹ .... ''[وسنگ که در تيه بيابان به موسىٰ آمده بود از پروردگار رود چشمه از و پيدا مى شد وبنى اسرائيليان از وآب مى خوردند''] وعمامه [ابراهيمؑ] ونعلين وعصا هارون که از چوب بادام بود ويک قفيز من وسلوىٰ تيه دران تابوت بود.'' يعني [او کانړے چې د پروردګار له لوري د تيه په بيابان کښې موسیٰ عليه السلام لره راغلے وهٔ او دوه چينې به ترې زيږيدے او بني اسرائيل به ئې اوبهٔ څښلے] او دستار د [ابراهيمؑ] او پيزار او همسا د هارونؑ چې الخ. د ولاړو ليندو تر مينځه عبارت د بانکي پور خدا بخش

لائبریری د نسخې دے. د دې نسخې د عبارت له رویه دستار د حضرت ابراهیمؑ او پیزار او همسا د حضرت هارونؑ وه. کهٔ د دستار نه پس لیندې لرې کړے شي (چې د بانکي پور د لائبریری د نسخې په بنا زیاتې کړے شوي دي نو مطلب به دا وي چې دستار، پیزار او همسا درې واړه د حضرت هارون علیه السلام وو.)

۲. لکه چې د ص ۲۰ په دویم نوټ کښې وونیل شول د تابوت سکینه بني اسرائیل ته رسیدل د طالوت د بادشاهی آیة (نخښه) ده. قرآن پاک په دې باره کښې ارشاد کوي "وَ قَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ آيَةَ مُلْكِهٖٓ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ بَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى وَ اٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ." (سورهٔ بقره ۲: ۲۴۸)

ترجمه : او د هغوي نبي هغوي ته ووې چې د هغهٔ د بادشاهی نخښه دا ده چې تاسو ته به تابوت چې پکښې ستاسو د رب له طرفه د زړهٔ ډاډ او د موسیٰؑ د آل او د هارونؑ د آل د ترکې ځنې پاتې څیزونه دي در ورسي (چې) فرښتو به وچت کړے وي.

علاوه له دې نورې خبرې لکه چې خواجه نعمت الله لیکلي دي اسرائیلیات او متعلقات ئې دي. او هیڅ صحیح یا معتبر سند نهٔ لري. مولانا عبدالرشید صاحب نعماني (لغات القرآن جلد ۳ لفظ سکینه) په ذکر شوي آیت مبارک کښې د "سکینه" په معنیٰ د بحث نه پس فرمائي: "علاوه له دې په دغه باب د تفسیر په کتابونو کښې چې کوم بې سر و پښې روایتونه نقل شوي دي نهٔ عقلاً او نهٔ نقلاً صحیح دي او بیا سره داسې متعارض چې یو خائے کول ئې ناممکن."

۳. ن ز ۱۵/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۳۹ "پس سبحانہ وتعالیٰ پیغمبرے از اسباط لاوی بن یعقوبؑ بن اشموئیل/اسموئیل نام مبعوث گردانید" یعنې حق تعالیٰ د لاوي بن یعقوبؑ له نمسو اشموئیل یا اسموئیل نومے پیغمبر مبعوث کړ.

۴. ن ز ۲/۱۵ "-----کدام یکے از ایشان به این دولت مقرر گردد۔ فصل اول در بیان احوال ملک طالوت در سیدن او به امارت وایالت بنی اسرائیل وتابوت سکینہ وما یتعلق بہا" له "دربیان" تر "ما یتعلق بها" د فصل اول عنوان دے. وروسته دا عبارت دے "راویان اخبار پیشینہ وناقلان آثار دیرینہ آوردہ اند کہ چون بنی اسرائیل از مہتر اشموئیل درخواست بادشاہ کردند وپیغمبر خدا التماس ایشان بہ درگاہ قاضی الحاجات ملتمس نمود حکم الٰہی را منتظر بودند ودر بنی اسرائیل مردے بود قیس نام براویتے الخ۔ مطلب دا چې له هغو ځنې به څوک په دا دولت (بادشاهی) تاکهٔ شي وروميے فصل د ملک طالوت د بادشاهی او د هغهٔ د بني اسرائیل د امیری او مشری او د تابوت سکینه د او ورسره د متعلقو خبرو په بیان کښې. د مخکښینو خبرو روایت کړوني او د زړو آثارو نقل کونکي وائي چې بني اسرائیل د مهتر اشموئیل نه د بادشاه خواست وکړ او د خدائے پیغمبر د

هغوي عرض د قاضي الحاجات په بارګاه کښې پيش کړ د خدائے حکم ته ئې کاته. په بني اسرائيل کښې قيس نومے سړے وۀ په يوۀ روايت الخ."

ن ح جلد ۱ ص ۴۰ "---- کدام يکے از ايشان بآيات اين دولت معزز گرددو مى گفتند مصرع اين کار دولتست کنون تا کرا رسد" د دې نه پس عنوان دے فصل اول دربيان الخ او بيا راويان پيشينه...... هر روايتے" وړپسې لکه چې د ن ز عبارت دے د ابتدائي الفاظو کدام يکے ..... کرا رسد ترجمه به داسې وي چې له هغو څخه به څوک د دولت (بادشاهى) په نخښو نمانځلے شي. او ونيل به ئې مصرع دا اوس د بادشاهى کار دے چې چاته به رسي.

۵. ن ا محمد اسحاق جريرة الطبري ن ب محمد اسحق الطبري. ن ز ۱۵/۲ "محمد بن اسحاق جرير الطبرى نام جد اسحاق ومنسوب بہ قبيله که از اکابر مؤرخان است" ن ح جلد ۱ ص ۴۱ ايضاً. ډورن حصه اول ص ۱۵ محمد اسحق جرير الطبري. په ن ح کښې ص ۴۰، ۴۱ د "بقول حمدالله مستوفي صاحب تاريخ گزيده و محمد بن اسحاق جرير الطبري الخ (ص ۴۱) نه وړومبے دا عبارت دے [بروايت ابوعلى بن احمد واز خواجه محمد مستوفى روايت کرده واز خواجه محمد مستوفى راويست واواز خواجه محمد بن عبدالله مودود مستوفى حاکيست؟ واواز خواجه داؤد بن محمد مستوفى روايت کرده واواز خواجه حمادالدين؟ حميد مستوفى روايت کرده واواز خواجه طائفه مستوفى روايت کرده واواز خواجه حسن بن حامد تحقيق نمود واز خواجه جعفر شنيد وخواجه جعفر از پدر خود على پرسيد که اصل ونسل ملک طالوت بيان فرما که از کدام خاندان است واز کدام دودمان. پدر خواجه جعفر را چندان معلوم نه بود هيچ جواب نه فرمود بعد از ان خواجه جعفر مذکور از جد بزرگوار واين معنى پرسيد جد بزرگوارش در دفتر قديم مستوفيان سابق ودر کتب تواريخ مورخان پيشينه تفحص نمود وتحقيق فرمود که ملک طالوت از نسل قيس است قيس بن عتبه بن عيص بن روئيل بن ابن يامين بن يعقوبؑ بن اسحقؑ بن مهتر ابراهيم عليه السلام وبقول بعضے نسب عالى حسب ملک طالوت بحضرت اسرائيل اين چنين منتهى ميگردد که طالوت بن قيس بن ضرا بن السى بن محرق بن ابن يامين بن حضرت يعقوبؑ"]

حاصل دا چې فلانکي له فلانکي روايت کړ او هغۀ له فلانکي حکايت کړے او فلانکي فلانکي واوريد او فلانکي فلانکے وپوښتلو تر دې چې خواجه جعفر له خپله پلاره د ملک طالوت د نوغي کورنى او کهالۀ په حقله پوښتنه وکړه هر کله چې هغه نۀ وۀ خبر هيڅ ځواب ئې ور نۀ کړ پسته خواجه جعفر له خپله نيکۀ تپوس وکړ او هغه د نرغونو مستوفيانو له زاړۀ دفتره او د مخکښينو مؤرخانو د تواريخ له کتابونو مرسته او رښتينولي وکړه. ملک طالوت د قيس له نسله دے. قيس بن ..... بن مهتر ابراهيم عليه السلام او په قول د څنو د ملک طالوت لوړ شانے نسب تر حضرت اسرائيل داسې رسي چې طالوت بن ... حضرت يعقوبؑ. علاوه له دې تصريحاتو د ساول د نسب دپاره دې د ص ۱۶ نوټ ۷ ته هم رجوع وشي. ولاړې ليندې د بانکي پور خدا بخش لائبريرى د نسخې علامت دي.

۶ زما په مخکښې په پښتو ترجمه کښې عبارت د "زوي لره ئې ور کړے" نه پس ناقص

دے. دغه الفاظ چې په عبراني کښې ئې نامه سارول وه او بيا د لوړے اوږد نه پس وۀ دۀ ته به ئې طالوت وے. له فارسي نسخو (ن ز ۱/۱٦ و ن ح جلد ۱ ص ۴۲ ''که نامش به زبان عبرانی سارول بودو بنا بر طول قامت اورا طالوت می گفتند'' ترجمه او علاوه شول. د ډورن له انګريزي ترجمې هم هسې بريښي چې د هغۀ په مخکښې نسخه کښې هم دا الفاظ ''که نامش بزبان عبرانی سارول بود'' نۀ وو.

ص ۴۲

ن ز ۱/۱۷ ايضاً ''بنی اسرائیل اباءنمودند'' ن ح جلد ۱ ص ۴۲ ''-----اباءنمودند'' [وسراز اطاعت پیچیدند] زياتي الفاظ د ايشياټک سوسائټي کلکته لائبريري د نسخې په حواله دي.

۲. ن ز ۱/۱۷ و ن ح جلد ۱ ص ۴۴ ''نبوت رسالت''.

۳. زما په مخکښې په پښتو ترجمه کښې د ''قرار موندلے وۀ'' نه پس او بيا د ''اشموئيل'' نه پس تر ''او ملک طالوت په يوۀ قول الخ'' عبارت ناقص دے. د ''الياس او اليسع'' عليهم السلام مبارکې نامې له ن ز ۱/۱۷ او ن ح ص ۴۴ شاملې کړے شوے د ''اشموئيل'' نه پس عبارت له ن ز ترجمه او علاوه کړلے شو. په ن ح کښې د ''وتمامت انبیا ازان سبط بوند'' (او تمامي انبيا له هغې ټبې وو) نه پس د ''اما داؤد و سليمان'' الفاظ نشته. ما په ترجمه کښې د ن ز پيروي وکړه. حضرت داؤد او حضرت سليمان عليهما السلام يقيناً (لکه چې د مسلمانانو په خلاف د يهودو او نصاريٰ ۇ عقيده ده) نبيان وو خو له بني لاوي نۀ وو. نو د ''اما'' استثنیٰ مطلب او ترې مراد د هغو مبارکو د نبوت اثبات او بني لاوي ځنې کيدو ئې انکار دے. ځکه چې هغوي له بني يهودا وو (تاريخ ۲: ۱۳ ـ ۱۵) لکه چې ن ح کښې هم په مخ وونيل شول د بني اسرائيل بادشاهان ټول له بني يهودا وو خو داؤد او سليمان عليهما السلام صرف بادشاهان نه بلکې ورسره پيغمبران هم وو. د تمامت ملوک الخ نه پس دغه خبره واضحه کړې شوه. ''اما داؤد و سلیمان را هردو میسر شده بود'' په ن ز کښې چې کوم وخت د بنئ اسرائيل د ټولو پيغمبرانو له بني لاوي د کيدو وينا وشوه نو هورې هم وونيل شول چې حضرت داؤد او سليمانؑ اګر کۀ د بني لاوي د ټبې نه وو پيغمبران وو او بيا چې ورپسې وونيل شول چې ټول اسرائيلي بادشاهان له بني يهودا وو نو (لکه چې په ن ح کښې هم) نو سباق سره ئې سم دلته هم ووې چې حضرت داؤد او حضرت سليمان عليهما السلام دواړه هم بادشاهان او هم پيغمبران وو. په ن ح کښې د ''صلوٰة الله عليهما اجمعين'' په ځائے ''صلوٰة الله عليه اجمعين'' دے. ن ز صحيح ده. د ډورن انګريزي ترجمې حاصل به په پښتو کښې داسې وي.

موسیٰ، هارون او اسموئيل او بادشاهت د يهودا بن يعقوب قبيلې سره متعلق وۀ چې له هغې ځنې داؤد، سليمان او بني اسرائيل ټول بادشاهان وو.'' (ص ۱٦) په تعليقات ص ۲۱ (په

تسلسل د دويمې حصې د صفحاتو) الياس او اليسع نامې ئې هم له يوې بلې نسخې ليکلي دي خو اليسع ئې اليع Elia لوستے دے.

۴. پښتو ترجمه "وحي ملک علي الاطلاق الخ" ن ز ۱۷/۲ ن ح جلد ۱ ص ۴۴ "وقابليت وحي الهي نداشتند" ډورن ص ۱۷ "هر کله چې هغوي باوجود د بادشاهت دپاره د نااهليت د وحي الهي نافرماني کوله."

د ن ح فاضل محشي د بانکي پور خدا بخش لائبريری د نسخې کوم عبارت چې نقل کړے دے (ص ۴۴ حاشيه) په هغهٔ کښې د گناه او فساد نسبت ابن يامين نوم ئې تېې ته شوے دے يعنې د هغهٔ اولاد ته. "بسبب معاصي وفساد ے کہ از سبط ابن يامين واقع شده بود."

صـ ۲۳

قهر او غضب (چې ذکر ئې لږ وړاندې شوے دے) په مونږ نازل شي.

۲. په قرآن شريف کښې د بني اسرائيل د دې مطالبې او شرط ذکر نشته بلکې ارشاد دے چې کوم وخت بني اسرائيل احتجاج وکړ نو د هغوي نبي عليه السلام ورته (علاوه له نورو خبرو) وفرمائيل چې د دهٔ د بادشاهي نخښه (آيه) دا ده چې فرښتې به تاسو ته تابوت سکينه وچت کړے در ورسوي او د بني اسرائيل احتجاج يا اعتراض هم صرف دومره قدرې بيان شوے دے چې مونږ د بادشاهۍ زيات حقدار يُو او هغهٔ له ډېر نهٔ دے ورکړے شوے. (بقره ۲: ۲۴۷، ۲۴۸)

صـ ۲۴

(الف) لکه چې وړومبے ووئيل شول (ص ۲۱ نوټ ۲) د وخت نبي عليه السلام بني اسرائيل ته ووې چې فرښتې به تابوت سکينه وچت کړے راوړي نو د خواجه نعمت الله دغه بيان چې "ناگاه تابوت له هوا په حضور د مهتر اشموئيل راکوز په زمکه استاده شهٔ" د قرآن حکيم ارشاد سره (کهٔ ئې لفظاً عين مطابق نهٔ دے) تر يوهٔ حده سمون خوري. باقي دا نوره قصه د وبا، ډيران، غوايهٔ وغيره دا له بائبل او نورو اسرائيلياتو څخه ماخوذې خبرې دي. په بائبل کښې دغه شان يوه ډيره اوږده قصه د تابوت سکينه بني اسرائيل ته د بيرته رسيدو په باب کښلې ده. او خلاصه ئې دا ده چې د کله نه فلسطينيانو تابوت سکينه يوړو او د اشدود په بيت د جون کښې ئې کيښود نو هر سحر چې به پاسيدل نو ليدل به ئې چې ديوتا د جون ئې پړمخ پروت دے سم به ئې کړ خو بله ورځ به ئې بيا دا حال وهٔ چې دجون به د تابوت په مخکښې پړمخ پروت وهٔ او سر او پنځې به ئې پريکړې په درشله پراتهٔ وو. بس يوه تنه (انگريزي ترجمه Stump مونډ يا تنه. حاشيه Fishy Part د کب په څير برخه) به ئې ورپاتې وه. په

اشدودیانو د وبا په شکل د خدائے عذاب نازل شو. د بواسیرو گلتی (یا تکمې) به پرې راختے او تابوت ئې جاث ته ولیږلو. هغوي هم په غضب اخته شول له هغه ځایه تابوت عقرون ته ورسولے شو او هلته ډیر خلق مړهٔ او له مړینې پاتې په بواسیرو اخته شول. په دغه حال اووهٔ میاشتې تیرې شوې او اخر د نجومیانو او کاهنانو په مشوره د سرو زرو پینځهٔ گلتی او پینځهٔ مږې جوړې کړے او په یوهٔ گاډې کښې سره د صندوقه کیښوے شوے ورپورې د پیو غواگانې چې چرې ئې ایوه نهٔ وه کړے ترلے غواگانې د بیت شمس په لور روانې شوے او ور ورسیدے. فلسطي سرداران هم ورسره د بیت شمس تر خواؤشا راغلي وو خلقو غنم ریبل گاډے د یوشع په پټي کښې راغے ودرید. خلق ډیر خوشحال شول او له هغه ځایه تابوت قریث یعاریم ته ورسولے شو. (شموئیل باب ۵، ۶ باب ۷: ۱،۲)

ما د تلخیص کولو په وخت د مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۲ ص ۴۲، ۴۳) خلاصه د نظر د وړاندې ساتلې وه او صرف په ډیر لږ فرق مې هم هغه څهٔ له متعلقه ځایونو اخستي دي چې د کومو ذکر ممدوح مرحوم کړے دے. البتہ د هغوي په کتاب کښې د سرو زرو د گلتیو او مږو گڼه اووهٔ کښلې ده. خو په بائبل کښې پینځهٔ ده. (یعنې پینځهٔ گلتی او پینځهٔ مږې) بیا ئې په حاشیه کښې د شموئیل د شپږم باب او د اووم باب ۱ او ۲ حواله ورکړې ده. ټول باب پینځم هم به لکه د ټول شپږم باب او د باب اووم د ۱ او ۲ جملو لوستل ضروري وي.

اوس هر کله چې په قرآن حکیم کښې صفا تصریح ده چې "تحمله الملٰئكة" نو هغه کسان چې نهٔ صرف د تواریخ په کتابونو کښې بلکې په تفسیرونو کښې هم د بائبل بیانات او اسرائیلي روایات د حقائق په طور یا بې له څهٔ تنقیده نقل کوي د دغه قصې د قرآن پاک بیان سره د مطابق کولو دپاره دا توجیه کوي چې دا غواگانې د فرښتو په رهنمایي کښې تر بیت شمس رسیدلے وے. لکه چې د خواجه نعمت الله په بیان کښې هم شته. د دوي په خیال دغسې به د قرآن د دغه ارشاد چې فرښتو تابوت سکینه وچت کړے بني اسرائیل ته رسولے وهٔ هیڅ مخالفت نهٔ واقع کیږي خو په بائبل کښې لیکلي دي چې فلسطي سرداران یا اقطاب گاډي پسې د بیت شمس تر خواؤشا راغلي وو نو لکه چې مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم فرمائي د تابوت د غوایو په گاډي کښې په دې طریقه بني اسرائیل ته رسیدل چې ورپسې فلسطي سرداران راروان وو په مافوق العاده طریقه وررسیدل نهٔ دي. او د قرآن د بیان له رویه د تابوت سکینه بني اسرائیل ته په یوه مافوق العاده طریقه رسیدل چې فرښتو به وچت کړے وي د طالوت د بادشاهي نخښه (آیه) وي او بیا لکه چې مولانا صاحب ممدوح مرحوم

فرمائي کۀ د يادو شوؤ کسانو توجيه صحيح وي نو بيا قرآن پاک کښې د "تحمله الملئکة" (فرښتو به وچت کړے وي) په ځائے د "تهدى به الملئکة" (فرښتې به ئې رهنمائي کوي) الفاظ ولې نۀ راتلۀ. چې تر څو د تطبيق په کوشش د ستائيلي مولانا مرحوم د دويم اعتراض تعلق دے دومره وزني او زړۀ تـه پريوتونکے دے چې شايد د تطبيق د کوشش کونکو نه څۀ ځواب جوړ .... نۀ شي. خو ګونديې د ورومبي اعتراض په ځواب کښې ووائي چې بائبل دا نۀ دي ليکلي چې د فلسطيانو سرداران ګاډي سره د بيت شمس په لور د غواګانو د بوتلو دپاره راغلي وو بلکې لکه چې د کاهنانو او نجوميانو خيال او تجويز وۀ ورپسې د دې کتلو دپاره تلۀ چې غواګانې د بيت شمس په لور کۀ په بل لور ځي. څکه چې کۀ بل لور ته تلے وے نو بيا به هغوي دا ګڼل چې کومې ګرانې سختې په هغوي تيرې شوے هغه د تابوت له قبله له خدائي عذابه نه بلکې له اتفاقي حادثې وے. (٦ : ٩) خو کۀ د ورپسې تلو هم دا غرض وۀ نو دغه تر يوۀ مزله له تلو هم پوره کيدے شو عين د بيت شمس تر پولې يا بريده ورپسې د تلو (٦ : ١٢) د احتياط او اهتمام څۀ غرض وۀ. سيوا له دې چې غواګانې ئې په هغه لور شړلے. بيان قرآن خو فرمائي (بني اسرائيل ته ئې زيرے ور کړے وۀ) چې تابوت به فرښتې وچت کړے رارسوي او کۀ مونږ د بحث له خاطره دا هم منو چې د تابوت رهنمائي فرښتو کوله او سرداران هم دغسې راغلي وو لکه چې بائبل وائي نو بني اسرائيل به څنګه خبريدل چې دوي د غواګانو د رهنمايي يا د شړلو دپاره نه بلکې د ازميښت دپاره راغلي دي. نو دلته به د تطبيق کونکو دپاره دا وئيل ضروري وي چې بني اسرائيل ته فرښتې ښکاريدے چې غواګانو ته ئې لار ښودله نو چې خدائے پاک فرښتې دې غرض دپاره راليږلے نو بيا خو د ګاډي ماډې وغيره دا ټوله قيصه او خبرې غير ضروري دي. بس دا منل کافي او اولىٰ دي چې فرښتو له فلسطيانو تابوت راواخست او بني اسرائيل ته ئې ورسولو او د نورو خبرو هيڅ ضرورت نۀ پيښيږي خو کۀ د تطبيق کونکو په ځواب د دغو اعتراضونو نه قطع نظر هم وکړو نو تپوس کولے شو چې د قرآن شريف معنې او مطالب بيانولو دپاره دا په کوم اصول ضروري ګرځولي شوي دي چې کۀ يو مضمون په قرآن شريف او بائبل کښې مشترک وي نو هلته په جزياتو کښې د اختلاف په صورت کښې د قرآن شريف د الفاظو دپاره خامخا داسې معنې پيدا کړے شي چې بائبل سره بيلتون لرې شي او دغه طريقه به تر کومه حده د عملي کيدو قابله وي.

علاوه له هغۀ څۀ چې په دې باره کښې ووئيل شول کۀ په دې قصه کښې د يهوديانو د کردار خصوصاً د طالوت په بادشاهي د اعتراض په لړ کښې او د بحث د لاندې قيصې سره متعلق وخت کښې د هغوي د نفسياتو تجزيه وشي نو لاندينۍ خبرې ترې جوتيږي:

(۱) یهودیان د طالوت په بادشاهی خفه وو.
(۲) د بائبل د بیان له رویه تابوت وړومبے رارسیدلے دے. (شمَوئیل ابواب ۵، ۶، ۷) او بني اسرائیل له شموئیل د هغوي دپاره د بادشاه د مقررولو مطالبه وروستو کړې ده او کوم وخت ئې چې مطالبه وکړه نو هم هغه وخت خدائے تعالیٰ په دې خبره خپل خفګان ښکار کړ او شموئیل ته ئې داسې خبرې وکړے چې ترې په جار ښکاریده چې دا بادشاه به ډیر خراب سړے وي. (باب ۸)
(۳) چې ساول د خرونو د لټون (د بائبل د بیان له رویه میږې یا ګډې ګډان نه بلکې خرهٔ ورک وو. اشموئیل ۹: ۳) نه راستون شي ضوف ته ورسیږي شموئیل سره ئې لیدل وشي نو شموئیل ئې د خدائي هدایت په ذریعه وپیژني چې دا هم هغه سړے دے چې خدائے تعالیٰ په باچاهي ټاکلے دے او د شموئیل او ساول تر مینځه دا خبرې اترې کیږي.
شموئیل : د اسرائیل ټول رغبت چا طرف ته دے؟ آیا ستا او ستا د پلار ټولې کورنی طرف ته نهٔ دے؟
ساول : آیا زهٔ بنیمیني نهٔ یم چې (زما ټپه) د بني اسرائیل په ټولو ټپو کښې وړه ده او آیا زما کورنی د بنیامین د ټپې په ټولو کورنو کښې وړه نهٔ ده. (باب ۹: ۲۰، ۲۱) او وګورئ مکمل ابواب ۵، ۶، ۷، ۸، ۹ او ۱۰)
(۴) د بائبل د بیان له رویه بني اسرائیل د طالوت یا ساول په بادشاهی چې کوم وخت ئې ورته اعلان وشو هیڅ اعتراض او غوریږ نهٔ وهٔ کړے. بلکې تر څو چې د شموئیل او ساول د سوال خواب تعلق دے ساول په بني اسرائیل کښې هر دلعزیز وهٔ البته خدائے پخپله وړومبے نه د ساول غندنه کړې وه.
(۵) له پورتنو خبرو هسې بریښي چې یهودو د خپل اعتراض د پټولو کوشش کړے دے او کوم الزامات ئې چې په ساول لګولي دي چې تاسو به ئې ولولئ د هغو د جواز او صداقت ښکاره کولو دپاره ئې په خپل خفګان او غوریږ پرده اچولے او دا قیصه ئې جوړه کړې ده چې خدائے تعالیٰ هغو زمونږ د باچا د تقرر په غوښتنه خوشحاله نهٔ وهٔ او مونږ له چې کوم بادشاه مقررېدونکے وهٔ له هغهٔ ئې شموئیل وړومبے خبر کړو چې دا بادشاه به ډیر زور کړونے وي.
(۶) سره د خپل اعتراض او خفګان د پټولو د کوشش هغه ترې ښکاره شوے دے اخر د شموئیل او بنیامین د سوال خواب مطلب څهٔ دے؟ کهٔ ساول ورته په خواب کښې هم دا ونیل غواړې چې زهٔ او زما پلار او زمونږ کورنی ډیره هر دلعزیزه ده نو دې دپاره په ټولو نه وړې قبیلې کښې له ټولو وړې کورنی نه کیدل ولې سبب وګرځي. کهٔ دا سوال خواب شوے وي

نو داسې به شوې وي چې بني اسرائيل چې په طالوت اعتراض کړے وي (لکه چې په قرآن سورة بقره ۲: ۲۴۷ او ۲۴۸ کښې بيان شوے دے وګورئ ص ۲۳ نوټ ۲) نو هغهٔ به ورته په خواب کښې وئيلي وي چې کهٔ زهٔ ښمتمن نهٔ يم نو څهٔ وشو کهٔ د بادشاهت دپاره اهم شرط له آل يعقوبهٔ کيدل وي نو آيا زهٔ د يعقوب (عليه السلام) د زوي بنيامين له اولاده نهٔ يم. بيا د ساول د بادشاه کيدو نه پس د ښنو واقعاتو په ضمن کښې خلق شموئيل ته وائي چې څوک دے چې وئيل ئې الخ د ويونکي دپاره ضمير واحد غائب مذکر يعني هغه [سړے] استعمال شوے دے) چې آيا ساول به په مونږ حکومت کوي. (Who is he that said) يعني هغه څوک دے چې وئيل ئې الخ
هغوي راولئ چې وې وژنو. (۱۲:۱۱) Bring the men that we may put them to death يعني دغه سړي راولئ چې مونږ هغوي ووژنو اسم (سړي) او ضمير (هغوي) دواړه د جمع صيغو کښې راغلي دي).

(۷) نو د حقائقو د پټولو او تحريفاتو کولو په لړ کښې چې يهودو دا کوشش کولو چې دا ښکاره کړي چې د تابوت سکينه ورته بيرته رارسيدل نهٔ د ساول د بادشاهی په لړ کښې او نهٔ ئې رارسيدل د آيت په طور وو نو هم دغه قصه ئې جوړه کړه چې دغه تابوت د غواګانو په ګاډي کښې رارسيدلے وهٔ. شايد چې په ابتدا کښې ئې نفسي کيفيت دا وهٔ چې تر دې حده ورائي چې دا ګاډے د فلسطيانو سردارانو په رهنمايي کښې رارسيدلے وهٔ او چې د فلسطيانو د زمکي راوتو او تر بيت شمس رارسيدو نو هيڅ مافوق العاده محرکات ورسره نهٔ وو. خو بيا ئې د نفسي تقلب په وجه (دې دپاره چې محض د تابوت د احترام په وجه او د هغهٔ د معجز نمايي او خپل فضيلت ظاهرولو دپاره ئې چې په قصه کښې کوم مافوق العاده عناصر په شروع کښې ايښي وو هغوي نقصان بيانهٔ مومي) دا ووئيل چې فلسطي سرداران صرف د ګاډي شاته د دې کتو دپاره راروان وو چې غواګانې ئې کوم لور ته بيائي. خو دا ترې بيا هير وو چې دغې خبرې دپاره چې کومه وجه بيانوي د هغې امکان ډير لږ دے. آيا د فلسطيانو د دې خيال دپاره چې عذاب او مصيبت هم د تابوت په وجه په هغوي راغلے وهٔ دا کافي نهٔ وه چې څنګه تابوت د اشدود بيت دجون ته راورسيد دجون سره هغه څهٔ وشو چې بيان ئې تير شو او په اشدوديانو هغه تباهي راغله چې ذکر ئې وشو او چې تر څو جات او عقرون ته دا تابوت نهٔ وهٔ رسيدلے هوري هيڅ نهٔ وو او چې څنګه ورغے هم هغه کانې پرې وشوې چې اشدوديان ئې په وير کړي وو نو له دجونه هر سحر د سر پنجو او پښو پريوتو نه علاوه په دريو ښارونو اشدود جات او عقرون کښې د تابوت رسيدلو سره د وبا د خوريدلو د تجربو حاصليدو نه پس د اتفاقي حادثې د فرض کولو کوم ګنجائش پاتې شوے وهٔ؟

ممکنه ده چې په تحریف کولو کښې دومره کنجکاوي کول څنو لوستونکو ته څۀ عجیبه ښکاره شوې وي خو چې ځوک د بني اسرائیل له تاریخه خبر دي هغوي ته به جوته وي چې کوم وخت بني اسرائیل او د هغوي عالمانو د مقدسو کتابونو او صحیفو په تحریف ګوتې پورې کړې وې د هغوي ذهني او فکري ورزش او ریاضت کافي زور او زیات وۀ او قام نې دقیق او باریک فکر او خیال له څښتنانو خالي نۀ وۀ. نۀ دا تحریفات او تصرفات په یوۀ ځل او نشست او نۀ بې غوره او بې زیاره شوي دي. دا بیله خبره ده چې خپل استعداد ئې اړولې پکارولو او د حقیقت په پټولو کښې کامیاب لکه چې ممکن نۀ وو نۀ شو.

پاتې شوه دا خبره چې کوم وخت فرښتو تابوت وچت کړې راوړلو نو بني اسرائیل لیدو کۀ نه. نو لکه چې مونږ د دې نه وړومبې وضاحت کړې دې چې کوم صورت تطبیق کونکي فرض کوي یا کوم موقف اختیاروي له هغې خو به دا منل ضروري کیږي او کۀ نه هسې خو د قرآن شریف له الفاظو دا مستنبط کول ضروري نۀ دي چې لیدې شوې هرکله چې بغیر له طبعي وسیلو او فطري ذریعو او بې د هغو د موجودګۍ له امکانه او له زماني او مکاني قیوده ازادانه تابوت بني اسرائیل ته پس له هغه زیرې چې ورکړې شوې وۀ رسیدلې او هغوي لیدلې وي نو دغه مشاهده د دغې خبرې د ثبوت دپاره چې تابوت د خدائې تبارک و تعالیٰ ماوراء الفطرت عاملانو (چې د الٰهیاتو په ژبه ورته فرښتې وائي او خارجي وجود لري) راوړ کافي وۀ. او بیا د تابوت دغه بني اسرائیل ته رسیدل لکه چې زیرې ورکړلې شوې وۀ د طالوت د بادشاهۍ د آیت کیدل ثبوت هم شول. خو ګوندې مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم له ارشاداتو قیاس وکړې شي چې سکه د هغوي دا ذوق وۀ چې فرښتې لیدې شوې ځکه چې هغوي د "تحمله الملٰئکة" معنیٰ او مطلب داسې بیانوي: "خدا کے فرشتے آنکھوں دیکھتے اٹھا کر لے آئیں گے۔" یعنې "د خدائې فرښتې به د سترګو په لیدو هغه وچت کړې راوړي" د دغه قیاس وجه دا کیدې شي چې تابوت خو به په هر حال لیدل کیدې شو صرف د فرښتو لیدل یا نۀ لیدل کیدل معرض بحث کیدې شي. نو ګوندې ستائیلي مولانا صاحب مرحوم به د "آنکھوں دیکھتے" (د سترګو په لیدو) الفاظ د فرښتو د لیدلو کیدو په حقله استعمال کړې وي. خو بل خوا دا هم وئیل کیدې شي چې ګوندې د "آنکھوں دیکھتے" (د سترګو په لیدو) تعلق د ستائیلي مولانا صاحب مرحوم په نزد د تابوت هغه حالت سره وي چې په مافوق العاده طریقه د کشش ثقل د طبعي قانون خلاف په طور د یوې معجزې او آیت په فضا کښې راغې. بني اسرائیل په داسې حالت کښې ولید او هغوي ته راورسید او دا د دې خبرې دلیل وۀ چې د خدائې جل شانه فرښتو وچت کړې راوړې وۀ. دواړه صورتونه د الله جل شانه د قدرت کامله

له شانونو او نمونو چې د انبياء عليهم السلام د معجزو په شکل کښې به ئې اظهار کيدو بهر نۀ دي.

پـه هـر کيف کـۀ يهـود او نـصارئ ته د تابوت د واپسی قيصه لکه چې په بائبل کښې ليـکـلې ده سره د خپلو مافوق العاده عناصرو ممکنه او صحيح ښکارې نو مسلمانان هم بلکې کـۀ ښکاري ورته او کۀ نه مسلمانان په "تحمله الملئکة" بې له څۀ اهماله او اشکاله او شکه او گمانه ايمان لرلے شي او لري.

(ب) د جـمـلې په اخري الفاظو "تابوت ئې کور ته وروړ" کښې د کور نه مراد د طالوت کور يا د مهتر اشموئيل کور هم کيدے شي. او د بني اسرائيل کور يعنې ملک او علاقه هم.

۲. پښتو ترجمه "نازل کړ".

۳. تـاسـو وړومبے ولـوستـل چـې طـالوت به په غوړونو کښې د رودنيل اوبۀ ډکولے (پښتو تـرجـمه ص ۲۱ ن ز ۱/۱۶ ن ح جلد ۱ ص ۴۲) نو مطلب دا چې په مصر کښې وسيدو او په مخزن افغاني يا تاريخ خان جهاني کښې چې کومې خبرې مو تر اوسه ولوستے بايد چې له رويه ئـې پـه بـادي الـنظر کښې محل د وقوع مصر وي ځکه چې واقعات ئې بې د ځايونو له قيده او تـعيـنـه بيـان شـوي دي خـو دلته مونږ ته طالوت په ايليا کښې ښکاري چې لکه وړاندې ووئيل شـول د يـروشـلم بيت المقدس نوم دے. (ص ۱۷ نوټ ۳) علاوه له دې د بائبل د بيان له رويه ارض مـقـدس د موسیٰ عليه السلام د وصال نه پس جناب يوشع فتح کړے وۀ. بيا بيت شمس Beth Shemsh او قـريـت يعاريم Kirjath Jearim وغيـره کـوم ښـارونـه او ځايونه د بني اسرائيل چې د تابوت سکينه د واپسی په ضمن کښې ياد شوي دي هغه بيت المقدس ته نزدې پـراتـۀ دي. بيـت شـمـس د عـسـقلان او بيت المقدس په لاره کښې له وروستو ياد شوي ځايه درويشـت څـلـيـريشـت ميله لرې پروت دے. او د قريت يعاريم او بيت المقدس تر مينځه نهۀ لس ميله مزل دے. (ويسټ منسټر قاموس)

۴. د حـضـرت مـوسـیٰ عـليـه الـسـلام په عهد کښې چې د بني اسرائيل د لښکر د بيان شوي تـعـداد په حقله مونږ څۀ وړومبے ونيلي دي (ص ۱۷ نوټ ۴) هغه تر څۀ حده د مهتر اشموئيل او طـالـوت پـه زمـانـه کښې هم د هغوي د فوځ په گڼه (۷۰۰۰۰) حاوي کيږي او د کفارو د فوځ د گڼې په حقله خو ډيره زياته مبالغه کړلے شوے ښکاري.

۵. يسي بن عوبيد بن بوعز Boaz Obed Essi وگورئ تاريخ ۲: ۱۲

۶. د بـائبـل (اشـمـوئيـل ۱۷: ۱۲ ــ ۱۴) له رويه د يسي يا ايشا اتۀ زامن وو چې له ټولو کشر پـکښې داؤد وۀ. دلتـه داؤد عـليه السلام نه علاوه صرف د دريو مشرانو زامنو ئې په ترتيب د

عمر دا نامې ور کړي دي. ايلعياب، ابنداب، سماح خو په تاريخ ۲: ۱۳ ـ ۱۵ کښې داؤد عليه السلام اووم زوے ياد شوے دے اووۀ زامن د عمر په ترتيب دا دي ايلعياب، ابنداب، سماح، نتن ايل، رداعي، عوزم، داؤدٌ. او هم د دې کتاب په ۲۷: ۱۸ کښې اليهو د داؤد عليه السلام ورور ياد شوے دے. د شموئيل ۲: ۱۵ نه د ويسټ منسټر قاموس فاضل مدون دا اندازه کونکے ښکاري چې ګوندې د يسي يو زوے بې اولاده مړ وي. (وګورئ يسي) خو کۀ ايلعياب او اليهو دوه بيل کسان نۀ وي نو په اشموئيل ۱۷: ۱۲ ـ ۱۴ او تاريخ ۲: ۱۳ ـ ۱۵ کښې اختلاف موجود دے او په ويسټ منسټر قاموس کښې (وګورئ اليهو Elihuاليهو او ايلعياب د يو کس نامې ګڼلے شوي دي.

۷. مطلب دا دے چې دغه حکم او هدايت په مهتر اشموئيل نازلې شوې وحي کښې د طالوت دپاره وۀ.

ص ۲۵

يعنې چې د ساول (طالوت) زوم به شي. ن ز ۱/۲۱ و ۲/۲۱ و ن ح جلد ۱ ص ۵۱ ''ملک طالوت ازين سخن طول شدند اكرد هر كه جالوت را بقتل آرد دختر خود را در حباله عقد او در آرم الخ يعنې طالوت له دې خبرې (د جالوت له پيغامه) خفه شو او غيږ ئې وکړو چې چا جالوت ووژلو خپله لور به ورته په نکاح کړم." او بيا ن ز ۲/۱۲ و ۱/۲۲ او ن ح جلد ۱ ص ۵۲ ''ملک طالوت ـ ـ ـ قول و پيمان نمود که ساخت که ـ ـ ـ ـ ـ به نسبت دامادی مشرف گردانم ـ''

۲. ن ز ۱/۲۲ و ن ح جلد ۱ ص ۵۳ خود د اوسپنې توپۍ، خول، قوله يا کلاه چې په عربي کښې ورته مغفر وائي.

۳. ن ز ۱/۲۲ و ن ح جلد ۱ ص ۵۳ ''بر فيل منگوی سفيد سوار شد'' يعنې "په سپين منګلوسي هاتي سور شۀ" بناغلي امام الدين صاحب په حاشيه کښې ليکلي دي چې منګلوس يو ځائے دے چې د خپلو سپينو هاتيانو دپاره مشهور دے.

۴. بائبل اشموئيل: ۱۷: ۴۹ ـ ۵۱ "داؤد په خپله کڅوړه کښې لاس ومنډلو او يو کاڼے ترې راوکښو او مچوغنه کښې ئې کيښودو او د فلسطي په تندي ئې داسې ور ګزار کړ چې هغه کاڼے ئې په تندي کښې ښخ شو او پړمخ په زمکه راپريوت. داؤد په يوۀ کاڼي او يوې مچوغنې په هغه فلسطي بر شو پرې ئې وويشتۀ او وې وژۀ او د داؤد په لاس کښې توره نۀ وه. نو داؤد منډه کړه د فلسطي دپاسه ودريد او د هغۀ توره ئې ونيوه له تيکي ئې راکښه او هغه ئې ووژلو او په هغې ئې د هغۀ سر پريکړ او چې فلسطيانو وليدل چې د هغوي پهلوان ومړ نو وتښتيدل."

ن ز ۲/۲۲ "په ورومبي کاڼي ئې په تندي، په دويم په بنې پوڅکه (بناګوش د غوږ

لاندېنې غوښه) او په دريم ئې په کينه پوشکه."

ن ح جلد ۱ ص ۵۴ "دري کالي ئې په مچوغنه کښې واچول چې د خدائے تعالیٰ په قدرت پو شول او جالوت ئې هري په تندي وويشت او ص ۵۴، ۵۵ د بل روايت له رويه ئې جالوت په يوۀ کالي په تندي په دويم په ښي پوشکه وويشت. جالوت چې هري په نيزه حمله کوله نو هغۀ تري نيزه راکښه او د هاتي په تندي کښې ئې تر نيمائي ښخه کړه. هاتي مخ واړولو نو داؤد عليه السلام په دريم کالي جالوت په کينه پوشکه وويشت."

ډورن ص ۱۹ "په وړومبي کالي ئې په تندي، په دويم د غوږ شاته جالوت وويشت او په دريم ئې هاتي په تندي وويشت."

ما د ن ز او ن ح او ډورن صرف خلاصه مطلب بيان کړ. د ن ح بيان خصوصاً اوږد دے او هغه خبرې هم مختصراً لري چې د بائبل (اشموئيل۱۷: ۴۳-۴۷) د بيان له رويه د داؤد عليه السلام او جالوت تر مينځه د جنګ په ميدان کښې شوے وے.

۵. پښتو ترجمه "پسنده به شوه" ډورن ص ۱۹ displeased Talut....يعني .... طالوت ئې خفه کړ."

ن ز ۱/۲۳ و ن ح جلد ۱ ص ۵۶ "ملک طالوت را عرق حسد در حرکت آمد" يعني "په ملک طالوت د حسد خولې راماتې شولے."

۶. ن ز ۱/۲۳ و ن.ح جلد ۱ ص ۵۷ "حرکت طالوت را به دختر او که زوجۂ داؤد بود ظاهر ساخت." يعني "د طالوت له حرکته ئې د هغۀ لور چې د داؤد ښځه وه خبر کړه."

ص ۲۶

ن ز ۱/۲۸ ن ح جلد ۱ ص ۲۶ "به سعادت سرمدی فائز گشت". مثنوي

کجایند شاہان جم اقتدار	ز ہوشنگ و جم تا بہ اسفندیار
فریدون و کیخسرو و جام کو	کجا رفت شاپور و بہرام کو
ہمہ خاک دارند و بالین و خشت	خنک آنکہ جز تخم نیکی نہ کشت

د طالوت (ساول) کوم زامن چې هغۀ سره شهيدان شوي د هغوي نامې چې لکه بائبل (اشموئيل ۳۱: ۱ - ۴) کښې راغلي دي يونتن، ابنداب، ملک يشوع وے. لکه چې بائبل وائي چې دغه دري زامن ئې شهيدان شول او پخپله په غشو ډير سخت ژوبل شو نو ساول خپل سلاحدار ته ووې چې توره وکاږه او تر ما ئې تيره کړه هسې نه چې دا ناسونته راشي او تر ما ئې تيره کړي او وۀ هې ښکنځي. چې سلاحدار هسې ونۀ کړل نو ساول خپله توره واخسته او ځان ئې هرې وغورزاوۀ.

پـه بـائبـل کـښې د ساول د قـجيرې خواني او دنګې ونې ذکر داسې شوے دے: "او په بـنـيـامـيـنيانو کـښې يو سړے وۀ قيس نوميدۀ .... او د هغۀ يو زوے وۀ د ساول په نامه چې غوره او ښکـلے ځوان وۀ او د اسرائيل په اولاد کښې له هغۀ ښکلے کس نۀ وۀ. له اوږو او ترې پورته هـغـه لـه هـر يوۀ کسه دنګ وۀ. (اشموئيل ۹: ۱، ۲) او ".... او هغه په خلقو کښې ودريد له اوږو تـرې پورته په اولس کښې له هره يوه کسه وچت وۀ." او لکه چې تاسو به زر ځيرئ په قـرآن حکيم کښې هم هغۀ ته له نورو ټولو غوره وئيلې شوې دي او د هغۀ د جسماني او علمي فـضيـلت ذکر شوے دے. په قرآن کښې چې ساول ته د طالوت نامه اخستے شوې ده نو د دې وجـه دا بيـانـيـږي چې هـغـۀ لـوړ قد و قامت درلۀ خو له قياسه لرې نه بلکې ورته نزدې وۀ چې صـرف د جسماني لوړے والي نه بلکې د روحاني رفعت او اخلاقي عظمت په وجه هم ورته دغه نامه اخستے شوے وي.

د طـالـوت د ظـلـم، جبـر او زور زيـاتـي کـومـې قـيـصـې چې خواجه نعمت الله او نورو مسـلـمـانـانو مؤرخانو او تذکره نويسانو او ځنو مفسرينو هم ليکلې دي نو له بائبله ئې اخستې دي. اګـر کـۀ طـالـوت نبي يا رسول نۀ وۀ او دې دپاره ئې معصوم نۀ شو ګڼلے دغه شان دا هم ضـروري نـۀ ده چې پـه بـائبل کـښې د هغۀ برخلاف فرد جرم طرف ته زمونږ هم هغه رويه وي کـومـه چې هغو الزامانو طرف ته چې کوم په انبياء عليهم السلام لګولي شوي دي خو لکه چې بـايـد لـوسـتـونـکـو ته ښکاره وي چې د چا د شخصيت په حقله د رائ قائمولو دپاره به د بائبل شهادت يوازې هيڅ کله کافي نۀ وي او بيا هغه حالت کښې چې شهادت ئې قرآن شريف سره معارض وي نو کۀ هر څومره نور مواد ئې په تائيد کښې هم وي مونږ ئې نۀ شو منلے.

د طالوت ذکر چې څنګه الله تبارک و تعالیٰ په قرآن حکيم کښې فرمائيلے دے د هغۀ په رڼا کښې مونږ هيڅ کله د طالوت کردار لکه چې په بائبل کښې ښودلے شوے دے منلو ته نۀ يـو سـم. او بـايـد چې د دۀ د سنګدلۍ، زور زياتي او حضرت داؤد عليه السلام سره د دښمنۍ خبـرې پـه هـغۀ د يهوديانو بې بنياده الزامات وګڼو. مونږ چې څۀ رنګ د طالوت شخصيت په قـرآن کښـې وينو نو هغه ظاهري او معنوي، جسماني، اخلاقي او روحاني لحاظ سره يو وچت انسان دے. د خدائے پاک خاص فضل او کرم پرې شوے دے لکه چې ارشاد دے :

وَ قَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا ؕ قَالُوْۤا اَنّٰى يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَ نَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَ لَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ وَ زَادَهٗ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ () وَ قَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖۤ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ بَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى وَ اٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ." (سورهٔ بقره ۲: ۲۴۷، ۲۴۸)

ترجمه: "او د هغوي نبيً هغوي ته ووې چې الله تاسو لره طالوت باچا مقرر کړو هغوي ووې هغه څنګه زمونږ دپاسه باچا کیدے شي (حال دا چې) مونږ له هغهٔ زیات د باچاهي حق لرو او هغهٔ لره مال (هم) زیات نهٔ دے ورکړے شوے. نبي ئې ورته ووې چې بیشکه الله هغه له تاسو (ټولو) غوره کړو. او د علم په زیاتوالي او د جسم په قوت کښې ئې هغهٔ ته وسعت بخښلے دے او چې چا لره الله غواړي د خپلې زمکې حکومت ورکوي او الله د ډیرې ورکړے او لوے علم څښتن دے. او د هغوي نبي ورته ووې چې د هغهٔ د باچاهي نخښه دا ده چې هغه صندوق به درله (بیرته) راشي چې پکښې ستاسو له ربه (تاسو لره) تسلي ده او څنې څیزونه دي د موسیٰ د کورنۍ او د هارونً د کورنۍ له ترکې.

نو اوس څنګه ومنو چې الله جل شانه به داسې سړے په ټول قام کښې د نورو په مقابله کښې غوره کولو چې بو خوا ئې د باچاهي او د کفارو برخلاف د جهاد دپاره ورته د مسلمانانو د قیادت د وظیفې سپارلو نه علاوه دومره لوے اعزاز او قدر بخښلو چې د هغهٔ د بادشاهي د آیت په طور به فرښتو بني اسرائیل لره تابوت سکینه چې کافرو تړې په زور وړے وهٔ بیرته راوړلو او هم ئې د بادشاهت د استحقاق د اثبات دپاره په شان کښې د بارګاه الٰهي نه د "وَ زَادَهٗ بَسْطَةً فِی الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ" پُرشوکته او له تعریفه او توصیفه ډک الفاظ استعمالیدل او بل خوا به اخر له دغه سړي داسې کارونه کیدهٔ چې تاسو ئې روئیداد ولوست.

مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم فرمائي "له قرآن عزیزه قطعاً لرې دي چې د کومې هستي یوه لویه برخه په ګناهونو کښې تیریږي او د جرائمو ارتکاب کوي د هغهٔ د بنیګړو ذکر او ستائنه خو دې کوي او د ژوند بل اړخ دې ئې نهٔ جوتوي. نو هر کله چې قرآن د طالوت د ستائنې نه علاوه د غندنې یو لفظ ئې هم په حقله نهٔ لري بلکې اشاره قدري هم ورته نهٔ کوي نو یوهٔ مسلمان لره څنګه بنائي چې د توریت (دلته هم د توریت لفظ د زړې عهدنامې په معنې کښې استعمال شوے دے) دا خرافي داستان صحیح وګڼي. حاشاً و کلا. (قصص القرآن جلد ۲ ص ۵۱ د بشپړ بحث دپاره وګورئ ص ۴۹ ـ ۵۱)

دغسې د طالوت د شموئیل قبر ته ورتلل او د شموئیل تړې راوتل وغیره خبرې هم داستانې دي. د بني اسرائیل د روایت چې لکه مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم راوړے دے له رویه طالوت د الیسع نبي قبر ته تلے وهٔ. د بائبل (اشموئیل ۲۸: ۱۴ ـ ۱۹) نه هسې بریښي چې یو بوډا سړے بنکاره شو او ساول ولید چې دا اشموئیل دے او بیا چې کومې خبرې اترې کیږي نو هم پکښې د ساول او شموئیل نامې اخستے شي. خو بیا هم دغه خبره

چې ساول څۀ يا څوک ليدلي وو او تر مينځه ئې څۀ ګفتګوئ شوې وه د دې هر څۀ نوعيت او حقيقت څۀ وۀ. د بائبل د عالمانو په مينځ کښې د بحث موضوع پاتې شوې ده. (ويسټ منسټر قاموس مقاله ساول Soul)

په طالوت يا ساول د يهودو له اړخه د دغو بهتانونو د لګيدو وجه د هغوي د هغې کينې تسکين او د هغه اعتراض دپاره جواز پيدا کول وو چې د هغۀ د بادشاهۍ د اعلان په وخت ئې اظهار شوے وۀ او غالباً چې دغه خفګان ئې له زړۀ هيڅ کله نۀ وۀ وتے.

دلته به په لنډو کښې دا وئيل مناسب وي چې باوجود د ساول د توررولو د مبنود په بائبل کښې هم د هغۀ عظمت بالکل پټ نۀ دے پاتې شوے مثلاً:

(۱) نو شموئيل ساول ته ووې چې خپل نوکر ته ووايه چې له مونږ وړاندې لاړ شي (او هغه لاړ) خو تۀ لا ودرېږه چې د خدائے کلام دروښيم (اشموئيل ۹: ۲۷)

(ب) بيا اشموئيل د تيلو يوه کوپۍ واخسته د هغۀ په سر ئې واړوله او هغه ئې ښکل کړ او وې وئيل چې آيا دا له دې قبله نۀ دي چې پروردګار په تا تيل ومښل چې تۀ د هغۀ د ميراث سردار شے. (۱۰: ۱)

...... او چې تۀ ښهر ته ورسے نو د نبيانو له يوې ډلې چې له وچته خايه به سره له مرچنګه، تنبل، شپيلۍ او بربط راکوزيږي به دوڅار شے. هغوي به پيشګوئي کوي او په تا به د خدائے روح نازل شي او تۀ به (هم) هغوي سره پيش ګويي کوے او تۀ به يو بل شان سړے شوے ئې. نو بايد چې هر کله دا نخښې تاته څرګندې شي نو چې څنګه موقع پکارولے شے هغسې کوه. خدائے تا سره دے.

(ج) "اشموئيل ساول ته دا هم ووې چې زۀ خدائے راليږلے يم چې تا د خدائے د ډلې بني اسرائيل د بادشاه کولو دپاره ممسوح کړم...."

آيا دا په اخره د يو ظالم، فاسق، فاجر کيدونکي د کردار آغاز دے چې مهتر اشموئيل ئې بيانوي او بيا وګورئ چې کوم سړي جناب داؤد عليه السلام ته د ساول د شهادت خبر رسولے وۀ او ورته ئې وئيلي وو چې ساول په ډير تکليف کښې وۀ او راته ئې ووې چې زما ساه نۀ ووځي نو ما ووژلو نو آنجناب عليه السلام خپل ګريوان مبارک څيرے کړي او ژاړي او نور خلق هم ورسره وير کوي او هغه خبر راوړونکي ته وائي چې تۀ له دې نه ونۀ ويريدے چې د خدائے مسيح (ساول څکه چې د بائبل د بيان له رويه د خدائے نبي اشموئيل پرې تيل مښلي وو) دې ووژلو. او د آنجناب عليه السلام په حکم هغه هم هورې ووژلے شو. او آنجناب عليه السلام وفرمائيل چې ستا مرګ هم ستا په سر چې تا پخپله په خپل ځان ګواهي وکړه چې تا د

خدائے مسیح ووژلو. (اشموئیل ۱ : ۱ -۱٦)او بیا آنجناب علیه السلام په ساول او د هغهٔ په زوي یونتن یوه مرثیه وائي. (اشموئیل ۱ : ۱۷ - ۲۷) چې ځنې برخې ئې دادي : "په د جلبوع غرونو په تاسو دې پرخه نهٔ پریوځي نهٔ دې درباندې باران وریږي او نهٔ دې ستاسو په کښتونو کښې د هدیې څیزونه وي ځکه چې هورته د مړنو ډال په زښته شرمناکه طریقه وغورزولے شو. د ساول ډال چې پرې ګوندې د تیلو مسح نهٔ وه شوې، د وژلیو له وینو او میړنو له وازدو د یونتن لینده وانهٔ وړیده او نهٔ د ساول توره تشه وڅرخیده. ساول او یونتن په ژوندانهٔ ښکلي او خواږهٔ وو او په مرینې هم بیل نهٔ شول. هغوي له عقابانو زیات ګړندي او د مزریو زیات قوتمن وو. یه د اسرائیل لونړو په ساول وژاړئ چې تاسو ئې سرې جامې سره له نورو ښادیو واغوستولے او ستاسو جامې ئې د سرو زرو په پسولونو ښائسته کړے. میړني څنګه د جنګ په مینځ کښې پریواتهٔ یه یونتنه تهٔ په خپلو لوړو مقاماتو کښې ووژلے شوے زما یونتنه وروره ستا دپاره زهٔ دردمن یم تهٔ ماته څومره خوږ وې.

دا د یو لوے انسان چې زمونږ د مسلمانانو د عقیدې له رویه یو جلیل القدر نبي او بادشاه وهٔ او د یهودو په نزد د بني اسرائیل بادشاه او ملي قائد وهٔ شهادت دے چې له رویه ئې هم هغه ساول په ژوندانهٔ ښکلے او سپیڅلے، د زړهٔ خوږ او ورته غوره وهٔ او د بني اسرائیل د لونړو د ښادیو او خوشحالیو باعث وهٔ چې یهودو ئې د کردار دفتر د ظلم او جور، زور او زیاتي له اعمالو او واقعاتو او قسماقسم جرمونو ډک کړے دے چې په خپل زور او ظلم ئې د بني اسرائیل بچي وژل او لونړه ئې ورله دغسې په ویر اخته کولے. ډورن په دغه ځائے یو ډیر اوږد نوټ لیکلے دے چې پکښې د پښتنو د مختلفو نومونو او د دوي د نوغې په حقله د مختلفو رائ ګانو او خیالونو جاج اخستے شوے دے. (ص ۱۰٦ - ۲۷ په تسلسل د دویمې حصې د صفحاتو) ډورن د دې نظریې چې پښتانهٔ بني اسرائیل دي مخالفت کوي خواه پښتانهٔ بني اسرائیل دي یا نه د ډورن دلائل زیات منفي او قیاسي دي او رجحان ئې زیات تر د هغو قرائنو رد طرف ته دے کوم چې د دوي د بني اسرائیل کیدو نفوته کوي وائي غیر یقیني ده چې د دوي د نسل متعلق د اسرائیلي نظریې اصل څهٔ دے او بیا وائي چې ګوندې په کوه سلیمان او خواؤشا کښې ئې استوګې دا خیال پیدا کړے وي. خو د دې خبرې د ځواب ورکولو نه پاتې شوے دے چې کوه سلیمان ته ولې کوه سلیمان وائي. کهٔ د پښتنو د اسرائیلي کیدو د نظریې اصل کوه سلیمان او خواؤشا کښې ئې استوګه وه نو دا خبره هم ممکنه ده بلکې اغلبه کیدے شي چې دې غرهٔ ته دې دپاره کوه سلیمان وائي چې سلیمانیان داسې خلق چې سلیمان سره ئې خپل تعلق ښکاره کولو پکښې وسیدل او هم د دې تعلق له رویه ئې دا غر سلیمان بللے او

نوملے وۀ. ډورن دا هم وائي چې دا خبره چې بهترين فارسي مؤرخان پښتانۀ بني اسرائيل ګڼي سوا لـه دې هيڅ نۀ ثابتوي چې دا ليکوال لکه چې د دوي عام دستور دے هغه څۀ چې جرح او تعديل ئې پکار وي د روايت په بنا بې له څۀ نوره دليله د امر واقع په شان بيانوي. د پښتنو روايات چې د دوي په غيرو منظمو شجرو مبني دي د قاري خيال د دوي په عکس اړوي. البته څکه چې تحقيق او علمي تفحص صرف د مغرب اجاره داري ده. او صرف هم د دوي فتوىٰ کۀ د هر چا په حقله او په هره مسئله وي د منلو ده. بيا وائي چې د پښتنو د اسرائيلي نامو وجه د هغوي مسلمانان کيدل دي. دا خبره صحيح ده چې په پښتنو کښې د اسرائيلي نامو رواج د هغوي د اسرائيلي کيدو دليل نۀ شي کيدے څکه چې د بني اسرائيل ديني پيشوايانو کښې څـنې د مسلمانانو په نزد هم د خدائے برګزيده پيغمبران او واجب الاحترام دي. بلکې لکه چې ورومبے ووئيل شول چې حضرت داؤد او حضرت سليمان عليهما السلام چې يهود ئې صرف بادشاهان مني د مسلمانانو د عقيدې له رويه د خدائے پيغمبران وو او د دوي حضراتو مبارکې نامې صرف په پښتنو کښې نه بلکې په نورو مسلمانانو قومونو کښې هم مروجې دي. نو اوس چې تر څو د ډورن د يادو شوؤ دلائلو تعلق دے هيڅ نتيجه ترې نۀ راوځي. هغۀ کۀ د پښتنو د اسرائيلي الاصل کيدو په رد کښې کوم دليل وزني او د غور قابل ورکړے دے نو صرف دا چې د دوي د ژبې عبراني يا کلداني سره نۀ لغاتو او نۀ د صرف نحوې له رويه پوتې قدرې مشابهت هم شته خو کۀ په دې دليل هم غور وشي نو د پښتنو د اسرائيلي کيدو د نظريې په رد کښې قطعي نۀ دے څکه چې دا له قياسه بعيده نۀ ده چې کۀ د بني اسرائيل يو څو کورنۍ پـه کلونو په ايران او په خواؤشا علاقو کښې وسيدلے وي نو هم د دغو علاقو د خلقو ژبه ئې اختيار کړے او خپله ژبه ئې هيره کړې وي. او له يو څو کورونو د داسې قام پيدا کيدل چې پس لـه تقريباً دوه نيمو زرو کالو تيريدو ئې هم ګڼه د يوۀ نيم او دوؤ کروړو تر مينځه ده (او ورسره څـنې نور قومونه هم يقيناً ګډ دي) هم له معقولې اندازې او قياسه هيڅ لرې نۀ دي. پـه مخ ډورن ليکي چې د دوي د اسرائيلي کيدو د زعم واحد ثبوت لکه چې سرجان ميلکم وائي د دوي کړۀ وړۀ دي خو په دې معيار به کشميريان هم اسرائيليان وي. نو ډورن پـه دې وجه هم د پښتنو اسرائيلي کيدۀ نۀ مني. په دې باره کښې اول خو د ډورن او سرجان ميلکم دا وينا چې د پښتنو کړۀ وړۀ لکه د اسرائيليانو دي مسلمه خبره نۀ ده. د سرجان ميلکم او ډورن تر وخته (کۀ پښتانۀ اسرائيليان وي هم) د دوي د کړو وړو بدليدۀ د درويشتو څلورويشتو صدو په دوران کښې د نورو قومونو سره د ګډون په وجه ضروري وو. او کۀ چرې دغه خبره مسلمه وي نو دې دپاره نۀ شي ساقطيدے چې د کشميريانو کړۀ وړۀ هم

د يهودو په شان دي. څکه چې کيدے شي چې دواړه قومونه اسرائيلي الاصل وي چې ملکونه ئې هم سره لګيدلي دي. کۀ په خوئ بوئ او قومي کردار کښې ئې فرق وۀ نو دا د ماحول د اثراتو له قبله وۀ. کۀ سرجان ميلکم او يا ډورن زمونږ د وختو د تيرو ديرشو څلويښتو کالو د کشمير کشميريان يا ئې په خپل وخت کښې زمونږ د اشنغر د پړانګو يا د مردان د ماپارو کشميريان ليدلے وي نو ګوندې دغه دليل ئې نۀ وړے وړاندې کړے. په هر حال لکه چې ما عرض وکړ اول خو دا خبره ثابته نۀ ده چې په عموم او اکثريت د پښتنو کړۀ وړۀ د يهودو په شان دي او کۀ وي هم نو په څواب کښې دا وينا غوره ده چې دا خبره څان له د دوي د اسرائيلي کيدو دليل نۀ شي کيدے.

پسته ډورن د پښتنو د نوغې په باره کښې د نورو خيالاتو ذکر او پرې بحث کوي او اخر کښې خپل خيال ظاهروي چې پښتانۀ د هغه ملک چې پکښې ميشته دي اصلي استوګن دي. او سر وليم جونز سره په دې خبره کښې اتفاق کوي چې دوي هم هغه خلق دے چې متقدمينو (يعنې د يورپ زړو مؤرخانو) ورته پيروپاميسيډي وئيلي دي. په مقدمينو کښې ئې د کونتيس کرتيس حواله ورکړي ده چې په ليک کښې ئې د پيروپاميسيډي ذکر راغلے دے او بيا ئې له ميجر رينل يو اقتباس کړے دے چې مطلب ئې لکه د ډوړن او د سر وليم جونز هم خيال دے دا دے چې افغانان د متقدمينو پيروپاميسيډي دي. نو اوس محض د څنو متقدمينو د يوۀ اولس يا قام د پيروپاميسيډي په نامۀ يادول کۀ هلته ميشته ئې په پښتونخوا يا په خواؤشا کښې صحيح کړے شي څنګه د ګرد پښتون قام د هغۀ سره يو کيدل ثابتولے شي او محض د قياس او ظن او تخمين په بنا د پښتنو د رواياتو د رد کولو سبب ګرځيدے شي.

په اخر کښې به په دې لړ کښې دا وضاحت کول ضروري وي چې د بني اسرائيل د اسارت نه چې له هغه وخته مبينه طور سره د بني اسرائيل د يوې ډلې له قامه بيليدل او په پښتونخوا کښې ميشته کيدل د پښتنو د اسرائيلي کيدو د دعوې اساس دے. د پښتنو په حلقه د اسرائيليت د دعوې کيدو تر وخته په پښتونخوا چاوونه راغلي او ترې تير شوي وو ډير قامونه ورته راغلي او ترې لاړ وو. ګوندې هر يوۀ ترې له څانه وروستو څومره غړې پريښې يا ترې پاتې شوي وي او چې مونږ د پښتنو اهل انسابو بيان ته ګورو نو له هغۀ هم دا هيڅ کله نۀ ظاهريږي چې ګنه له هغه وخته چې دوي په پښتونخوا کښې د پښتنو شجره روانوي په پښتونخوا کښې هم اسرائيليان صرف د پښتنو بيان شوے مورث او هم د هغۀ عزيزان او ترېوران وسيدلي دي. بلکې کۀ د دوي د بيان تجزيه وشي نو نتيجه ئې برعکس راوځي. څکه چې دوي د پښتنو د مورث اولاد په اصلي او وصلي کښې تقسيم کړے دے. د مورث په خپل

اولاد کبنې او په هغو کبنې چې ورسره ترلي او يو ځائے شول بيا د مورث په خپل اولاد کبنې هم تـول د هغـهٔ د نارينه اولاد له اولاده نهٔ دي بلکې د ښځينه اولاد له اولاده پکښې هم شته. دغسـې يـوه لـويـه ګـنـه پـخپله د پښتنو اهل انساب د خپل بيان له رويه د اسرائيليت له زمرې ووخې.

د فـاضـل مستشـرق پـه بيـان د دې انتـقـاد مـقصـد د اسرائيلي نظريې حمايت کول او ثـابتول ئې نهٔ دي او نهٔ د پښتنو اهل انساب د بيان کړو شجرو څهٔ تاريخي حيثيت ثابتول بلکې لـکـه چـې پـه تيرو صفحو کبنې د بني اسرائيل او ترې په وړومبو نسب نامو کوم بحث شوے دے لـه هغـه ښـهٔ ښـکـاره ده چـې شـجـرې او نسب نامې ځومره ناقابل اعتماده وې او نسابان پـکښـې لـه ځانه ځومره ردوبدل کوي. انتقاد نه غرض صرف د پښتنو د رواياتو او په بنا ئې د دعـوې پـه حـقـلـه د اکثر اهل مغرب د نهٔ صرف يو غير همدردانه بلکې تر يوهٔ حده د حقارت آميـزې رويـې خـلاف احتجاج او د پښتنو اهل انساب د دعوې اصلي نوعيت ښکاره کول وو سـره د دې خيـال چې غير اغلبه نهٔ ده چې په دغې دعوې کبنې صداقت وي. بايد چې په دغې دعوې د ځان پوهولو نه پس پرې مقلدانه انداز د يورپ د ذهني غلامي د اثراتو لاندې نه بلکې آزادانـه او محققانه انداز کبنې غور وشي. راقم د دې خبرې له اظهاره حجاب او باک نهٔ لري چې هغه پخپله لا په دې باره کبنې مولق نهٔ دے.

۳. پښتو ترجمه "په تفاوت د ورځو."

اصـل فـارسـي ن ز ۲۹/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۶۸ "۔۔۔تميز رسيد ندار خيادار ميادو يعت حيات بہ قابض ارواح سپردند۔" د ورځو يا ځو ورځو د تفاوت ذکر نشته.

۴. پـه زړه عهـدنـامـه کبنې خو د ساول د حکومت د مودې ذکر نشته البته په نوې عهدنامه (اعـمـال ۱۳ : ۲۱) کبنـې راغـلـي دي "پـس لـه دې هـغـوي د بادشاه سوال وکړ او خدائے د بنـيـامـين لـه قبـيـلـې د قيـس زوے د څلويښتو کالو دپاره په هغوي وټاکهٔ. او د بائبل د ويسټ منسـټـر قاموس له رويه يوسيفوس هم د دې خبرې مرسته کوي. د جناب داؤد عليه السلام د حـکـومـت زمانه په زړه عهدنامه کبنې درج ده. "او هغه موده چې په حبرون کبنې داؤد په بني يهودا حکومت وکړ اووهٔ کاله او شپږ مياشتې وهٔ." (اشموئيل ۲: ۱۱) او "داؤد چې حکومت شـروع کـړ نـو د ديـرشـو کالو وهٔ. او هغهٔ څلويښت کاله حکومت وکړ هغه په حبرون کبنې اووهٔ کـاله او شپږ مياشتې په يهودا او يروشلم کبنې درې ديرش کاله په ټول اسرائيل او يهودا حـکـومـت وکـړ. (اشـموئيل ۵: ۴،۵) دغسې څلويښت کاله نه بلکې څلويښت نيم کاله ئې حـکـومـت وکړ او بيا "او هغه موده چې هغهٔ په اسرائيل حکومت وکړ څلويښت کاله وه اووهٔ

کاله په حبرون کښې او درې ديرش کاله په يروشلم کښې. (تواريخ ۲۹ : ۲۷) او بيا "تولې ررخې چې داؤد په اسرائيل حکومت وکړ څلويښت کلونه وو. اووۀ کلونه ئې په حبرون کښې حکومت وکړ او درې ديرش کاله ئې په يروشلم کښې حکومت وکړ. (سلاطين ۲ : ۱۱) دلته د جمعې حاصل هم څلويښت جوړيږي. ولې چې حبرون له زمانې شپږ مياشتې لږې کړے شوے. په دې حساب د آنجناب عليه السلام ټول عمر مبارک ۷۰/۷۱ کاله شي. خو د تواريخ پسې پکښې کښلي دي چې د داؤد عليه السلام وفات په ښۀ زوړ عمر کښې شوے وۀ او د هغوي په ځائے د هغوي زوے سليمان عليه السلام بادشاه شو او د زړې عهدنامې هم له دغه کتابه د باب ۲۳ : ۱ له رويه چې داؤد عليه السلام زوړ شو نو خپل زوے سليمانؑ ئې د اسرائيل باچا کړ. او له دې وړومبے (سلاطين ۱ ۱ - ۴۰) له رويه هم داؤد عليه السلام په خپل ژوندانۀ سليمان عليه السلام باچا کړے وۀ. شروع داسې کيږي: "اوس داؤد بوډا او سال خورده وۀ او هغوي به په جامو کښې نغښتو خو هيڅ گرمي به ئې نۀ اخستله." (۱ : ۱) نو د هغو وختو د عمرونو له رويه اويا يا يو اويا کاله عمر څۀ دومره زيات نۀ دے چې بيان ئې په دې شان وشي.

د جالوت سره د مسلمانانو جنگ د ساول د بادشاه مقرريدو نه زر پس شوے وۀ او حضرت داود عليه السلام په دې جنگ کښې شامل وۀ. او هم د هغوي له دست حق پرسته جالوت خپل کيفر کردار ته رسيدلے وۀ نو دغه وخت حضرت داؤدؑ د ځلمي توب عمر ته رسيدلي وو نو کۀ د ساول د بادشاه کيدو په وخت کښې د هغوي د ځلمي توب آغاز وۀ او ساول (لکه نوې عهدنامه، اعمال ۱۳ : ۱۲) وائي څلويښت کاله حکومت کړے وۀ او داؤد عليه السلام هم څلويښت کاله حکومت کړے وۀ نو د وصال په وخت به د حضرت داؤدؑ عمر اويا کالو نه زيات وۀ. مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم په قصص القرآن جلد ۲ ص ۸۹ — ۹۰ کښې د حاکم د مستدرک يو حديث د حضرت ابوهريرهؓ په روايت راوړے دے او فرمائيلي ئې دي چې له دې روايته معلوميږي چې د حضرت داؤد عمر سل کاله وۀ او هم د مستدرک په حواله ئې د هغوي د حکومت زمانه اويا کاله ښنيلې ده. دغسې کۀ مونږ د ساول د حکومت زمانه هم څلويښت کاله ومنو او د هغۀ د بادشاهي د آغاز په وخت د حضرت داؤدؑ عمر مبارک د شلو کالو خواؤشا نو بايد چې لس کاله بادشاهي د ساول ځان له يوازې او باقي ديرش کاله ئې د حضرت داؤد عليه السلام سره مشترکه او څلويښت کاله د حضرت داؤد عليه السلام ځان له وي.

صــ ۳۰

(۱) پښتو ترجمه "ديوالو كرم چوب خوره الخ" فارسي ن ز ۱/۳۱ ن ح جلد ۱ ص ۴۷ "حق سبحانه و تعالیٰ كرم خواره تعين نمود" ن ز "كرم خواره" ن ح "كرم خوره".

(۲) د حضرت سليمان عليه السلام د وصال د واقعې په باره كښې د الله پاک ارشاد دے: "فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ () (سورة سبا ۳۴ : ۱۴) يعنې "بيا چې مونږ په هغهٔ مرينه مقرره كړه نو هغوي ترې خبر نهٔ كړل چا خو كونې (چې) د هغهٔ همسا ئې خوړه بيا چې پرېوت نو معلومه كړه جن چې كهٔ له غيبه خبر وے نو نهٔ به وو د خوارۍ په كړاؤ كښې."

مولانا شبير احمد صاحب عثماني مرحوم د دې آيت كريمه په تفسير كښې ليكي "حضرت سليمان عليه السلام د جن په لاس د بيت المقدس جمات د نوي سره جوړولو چې خبر شول چې زما مرينه نزدې ده جن ته ئې نقشه وښودله او پخپله ور پورې كړے د شيشې په يوهٔ كور كښې په عبادت مشغول شول. لكه چې ئې عادت وهٔ. په مياشتو به ئې په خلوت كښې عبادت كولو. هم په دې حال كښې ئې فرښتې روح قبض كړهٔ او نعش مبارك ئې د لرګي په امسا ولاړ پاتې شو. او هيڅوک ئې له وفاته خبر نهٔ شو. پس له وفاته ئې تر ښهٔ وخته جن برابر تعمير كولو چې تعمير مكمل شو همسا چې ئې امسا كړې وه كونې وخوړه راپرېوته دواړه ئې له وفاته خبر شول. له دې جن ته د خپلې غيب داني حقيقت ښكاره شو او د هغو منونكو وګړو ته هم چې كهٔ چرې دوي له غيبه خبر وے نو د خوارۍ په دې كړاؤ به اخته نهٔ وو. او د حضرت سليمانؑ له وفاته د خبريدو سره به ئې كار پرېښے وهٔ. له دې دا هم جوته شوه چې د شياطين وغيره تسخير څهٔ د حضرت سليمانؑ كسبي كمال نهٔ وهٔ محض د خدائے فضل وهٔ چې كهٔ خدائے ئې غواړې نو د يوهٔ لاش په حقله ئې پس له مرينې ئې په ځائے ساتلے شي او د سليمان عليه السلام په ژوندانهٔ چې پرې كوم انعامونه شوي وو دا د هغو تكميل وهٔ چې د مرينې نه پس ئې هم تر يوهٔ ضروري حده قائم وساتل شول. او ښكاره ئې كړه چې د پيغمبرانو برېا كړي كارونه الله تعالیٰ په څهٔ څهٔ تدبير پوره كوي." (د شيخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب مرحوم په ترجمه حاشيه).

مولانا اشرف علي صاحب مرحوم د دې آيت كريمه په تفسير كښې ليكي چې د سليمان عليه السلام د وفات وخت نزدې شو نو عصا په دواړو لاسو د زنې لاندې نيولے په تخت كښيناستل او هم دغه حالت كښې ئې روح قبض شو او هم دغه شان تر يوهٔ كاله ناست

وو. جنانو هغوي د ناست ليدو له قبله ژوندي ګڼل او کار ئې برابر کولو.

(۳) تاسو د مولانا شبير احمد صاحب مرحوم په حاشيه کښې وليدل چې د حضرت سليمان عليه السلام په حکم جن د بيت المقدس جمات له نوي سره جوړولو نو حضرت سليمان عليه السلام د بيت المقدس د جمات باني نۀ وۀ. مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۲ ص ۱۰۶، ۱۰۷) فرمائي چې عام طور سره مشهوره ده چې د بيت المقدس او مسجد اقصىٰ تعمير سليمان عليه السلام کړے دے خو دا خبره صحيح نۀ ده بلکې دا د هغوي د زمانې نه وړومبے جوړ وو او هغوي ئې تجديد کړے دے.

(۴) عام طور سره لکه چې خواجه نعمت الله هم ليکلي دي مشهوره ده چې بلقيس د حضرت سليمانؑ بي بي وه دا د سبا د هغې ملکې نوم ښنيلے کيږي چې قرآن کښې ئې ذکر شوے دے. خو په قرآن کښې خو نۀ د ملکه سبا نوم ښنيلے شوے دے او نۀ ئې د آنجناب عليه السلام سره د وادۀ ذکر فرمائيلے شوے دے او نۀ د دې خيال په مرسته کښې چرته صحيح حديث شته. البته په اسرائيلي قصو کښې بلقيس نوم راغلے دے او څنو (لکه حبشو) ئې ماکده نوم اخستے دے. له قرآنه البته دا يقيني ثابته ده چې ملکه سبا د آنجناب عليه السلام په دست حق پرست اسلام قبول کړے وۀ. (د مفصلو ابحاثو دپاره وګورئ قصص القرآن جلد ۲ مقاله حضرت سليمان عليه السلام).

په بائبل کښې د حضرت سليمان عليه السلام د معدلت آيت حکومت زمانه څلويښت کاله ياده شوي ده. "او هغه موده چې سليمان په يروشلم کښې په ټول اسرائيل حکومت وکړ څلويښت کاله وه." (سلاطين ۱۱: ۴۲) "او سليمان په يروشلم کښې په ټول اسرائيل څلويښت کاله حکومت وکړ." (تواريخ ۹: ۳۰) د بائبل د ويسټ منسټر قاموس له رويه حضرت سليمان عليه السلام د شلو کالو په عمر کښې په ۹۷۰ کښې بادشاه شول او هم د دغه ماخذ له رويه د حضرت داؤد عليه السلام د پيرى او ضعف په زمانه کښې د هغوي زوي ادونيا د آنجنابؑ نه د خودمختاره کيدلو او پخپله د حکومت کولو بند پيوند شروع کړو خو د "ناتن نبي" صبوق کاهن بناياه سر عسکر او د حضرت داؤد عليه السلام د محافظې دستې د برعکس کوشش په وجه ادونيا په خپل مقصد حاصلولو کښې کامياب نۀ وۀ. له دې پس زر د حضرت داؤد عليه السلام وصال او د حضرت سليمان عليه السلام د بادشاهت اعلان وشو. [د حضرت داؤدؑ په اوولسو زامنو کښې حضرت سليمانؑ لسم وۀ. په حبرون کښې د حضرت داؤد له بيلو بيلو ارتينو دا زامن شوي وو امنون، کلياب، ابسلوم، ادونيا، سفطياه، يىزعام (اشموئيل ۳: ۲ ـ ۵) او دا په يروشلم کښې زيږيدلي وو. سموعه، سوباب،

ناتن، سلیمان، ابحار، ایلسیوغه، لقج، یفیعه، اباسیع، الیدع، او ایبفانط (وګورئ اشموئیل ۵ : ۲ ـ ۱۶) لکه چې د بائبل د ویسټ منسټر قاموس مرتب ۱۴ لیکي د ادونیا د خودمختارۍ د اقدام په وخت امنون او ابسلوم مړهٔ وو. د کلیاب نوم په تواریخ ۳: ۱ کښې دانیال راغلے دے] (په حواله د سلاطین ۱ : ۵ ـ ۴۰) دغه ماخذ هم د آنجنابؑ د حکومت زمانه څلوېښت کاله او وصال ئې د ۹۳۱ ق م خواؤشا بیانوي. دغسې د آنجنابؑ عمر شریف شپیتهٔ کاله جوړیږي. آنجنابؑ د بائبل (سلاطین ۱۱ :۴۳) د بیان له رویه د خپل پلار په ښار کښې وسپارل شول. او زوے ئې رحبعام جانشین شو.

مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم د سلاطین ۱۱ : ۴۲ او ۴۳ د نقل کولو نه پس د قاضي بیضاوي قول راوړي چې حضرت سلیمان علیه السلام د دیارلسو کالو په عمر کښې بادشاه شول او د درې پنځوسو کالو په عمر کښې ئې وصال وشو. او بیا فرمائي چې د قاضي بیضاوي دا قول هم له توریته ماخوذ دے. (قصص القرآن جلد ۲ ص ۱۶۹) اګر کهٔ زمونږ په مخکښې چې زړه عهدنامه په کوم شکل کښې ده ترې د قاضي بیضاوي د قول تائید نهٔ کیږي. خو په هر حال د حضرت سلیمان علیه السلام په لږ. د دیارلسو کالو په عمر کښې بادشاه کیدل له قیاسه لرې نهٔ دي. ځکه چې هغویٔ د داؤدؑ لسم فرزند وو او کهٔ د حکومت آغاز ئې د هغو مبارکو د عمر د دیارلسم څوارلسم کال سره سم او د حکومت ټوله زمانه ئې څلوېښت کاله وګڼل شي نو بیا به ئې وصال هم د درې پنځوسو کالو په عمر کښې ګڼل شي. والله اعلم بالصواب.

الله تبارک و تعالي چې د وحي او نبوت نعمت او منصب سره کوم نور انعامات لکه د عظیم حکومت او دولت، ډیر جاه و حشمت او قوت او شوکت ورعطا کول او انس او جن ئې مطیع کول په آنجناب علیه السلام فرمائیلي وو ذکر ئې د ارشاد او هدایت تقاضو سره سم په قرآن حکیم کښې مفصل راغلے دے. د آنجناب علیه السلام مبارک عهد د بني اسرائیل د انتهائي عروج او ترقۍ زمانه وه خو د هغوي د زوي او جانشین رحبعام په زمانه کښې ئې زوال شروع شو. د یهودو او نصاریٰ ؤ د عقیدې له رویه د سلطنت د زوال سبب د هغو لغزشونو سزا وه (نعوذ بالله من ذٰلک) چې کوم د سلیمانؑ نه شوي وو او دغه لغزشونه چې آنجناب علیه السلام ته منسوب شوي دي هیڅ اصلیت او حقیقت نهٔ لري. او د هغو بهتانونو د سلسلې یو ا کړی ده چې په بائبل کښې د الله جل شانه په معصومو انبیاؤ علیهم السلام لګولي شوي دي. د کومو لغزشونو سزا ورکیدل چې بیان شوي دي په هغو کښې یو د آنجناب علیه السلا (معاذالله) د خپلو کافرو ښځو په بغوته بتخانې جوړول او له توحیده اوړیدل دي. خو خدائے

تعالیٰ دغه سزا د داؤد علیه السلام له مخه د سلیمان علیه السلام تر ژونده ملتوي وساتله او د هغوي د جانشین رحبعام په وخت کښې ئې ښکاره کړله. (وګورئ سلاطین ۱۱: ۱ ـ ۱۲) او هم د بائبل ویسټ منسټر قاموس کښې مقاله "سلیمان".

ص ۳۱

بخت نصر (نیبو کید نضر Nebuchednezzar د خپل پلار نیبو فولصر چې د نوي بابلي مملکت باني وه د مرګ (۶۰۵ ق م) فولصر نه پس بادشاه شوے وه او تقریباً د ۴۳ کالو د حکومت نه پس په ۵۶۲ ق م کښې مړ شو د سقوط د واقعي نه ډیره موده اګاهو هغهٔ ارض مقدس اخستے او بني اسرائیل ئې محکوم کړي وو خو هرکله چې وخت په وخت د مدافعت او مخالفت آثار به ښکاره کیدل نو اخر ئې په ۵۸۶ ق م کښې په یروشلم (بیت المقدس) قبضه وکړه. جمات ئې وسیزلو او پس له ډیرې ویرانۍ او قتل او غارت ئې ډیر بني اسرائیل بندي بابل ته بوتلل. (د بائبل ویسټ منسټر قاموس مقاله Nebuchadnazzar)

۲. ن ز ۲/۳۱ و ن ح جلد ۲ ص ۴۷ "مهتر دانیال ومهتر عزیز در بند او گرفتار بودند۔" ډورن ص ۶۵ کښې هم دواړه عزیز او دانیال یاد شوي دي. د ن ز، ن ح عزیز او د ډورن Azeëz (عزیز) صحیح نهٔ دے. عزیر Ezraصحیح دے.

۳. دلته د عزیر نامه په ن ز ۲/۳۱ کښې صحیح درج ده.

۴. "ومهتر عزیر و مهتر دانیال بہ جہت آنکہ تعبیر خواب اومع خواب کہ از ہول فراموش کردہ بود گفتند ہر دو را اخلاص ساختہ بود۔" (ن ز ۲/۳۱ و ن ح جلد ۱ ص ۴۷) کهٔ د ډورن په مخکښې فارسي نسخه کښې هم دغه عبارت وهٔ نو د هغهٔ ترجمه مؤدبانه عرض کوم چې څخو نامکمله ده چې لاندې ئې سره د پښتو ترجمې درج کوم:

in consideration of a dream they had imiterpreted to him, The meaning of which had dropt from his memory in consequence of his great consternation."

یعني "د یوهٔ خوب په عوض چې هغوي ئې ورته تعبیر وکړ چې معني ئې ترې په سبب د ډیر دهشت له یاده لویدلې وه."

د فارسي عبارت مطلب دا دے چې تعبیر ئې ورته هم وکړ او خوب ئې هم وریاد کړ چې له ډیره دهشته ئې له یاده لویدلے وهٔ خو لګه بائبل کښې چې دا واقعه درج ده له بخت نصر خوب نهٔ وهٔ هیر.(او ګوندې هم دې دپاره فاضل مستشرق ترجمه دغه شان لکه چې تاسو ولوستله کړې وي). خوب هم ډیر اوږد او تعبیر ئې هم ډیر اوږد دے خلاصه ئې دا ده چې

بخت نصر یو خوب یا رویا Vision ولید چې یوه ونه ده چې جرړې ئې د ځمکې تل ته او سر ئې اسمان ته رسیدلے وۀ. پاڼې ئې کبنلې او میوې ئې ډیرې او حیوانات څرنده به ئې د سیورې لاندې او مارغان به ئې په څانګو استوګن وو. دغه ونه پریکړل شوه. نور چې هر څوک ئې له معنیٰ او تعبیر کولو پاتې شو نو دانیال چې بخت نصر ورله د خپل معبود بیلطشضر نوم ایښے وۀ حاضر کړے شول او هغوي ورته د خوب تعبیر وکړ چې دغه ونه ستا له حکومته عبارت ده حکومت به له تا لاړ شي او تۀ به له غوایانو سره واښۀ خورے خو ملک مملکت به دې پاتې وي. کال چې تیر شو نو یوه ورځ بخت نصر په محل ګرځیدو او د خپل حکومت په زور او د مملکت په وسعت ئې فخر کاوۀ نو غږ ورته وشو چې حکومت خو له تا لاړ له بنیادمو ووتے او د غوایانو سره به واښۀ خورے. (داني ایل Danial یا دانیال څلورم باب)

اصل کبنې بخت نصر په یوۀ قسم لیونتوب یا دماغي عارضه اخته شوے وۀ چې لکینتهروپي Lycanthropy بلل شي چې مریض ئې ځان له ادنیٰ حیواناتو ګڼي. او هم د هغوي په شان حرکتونه کوي. (د بابل ویسټ منسټر قاموس)

بیا د بائبل هم د دې کتاب (داني ایل) خلاصه دا ده چې د بخت نصر زوړے بیلطشضر د خپلو یو زر امراؤ ضیافت کړے وۀ او سره د خپلو ښځو او وینځو د شرابو په څښلو لګیا وۀ چې ناساپه ئې ولیدل چې د انساني لاس ګوتې ښکاره شوے او په دیوال ئې څۀ ولیکل چې هر څوک ئې له معنیٰ کولو پاتې شو نو دانیال راوغوښتے شو او هغۀ هغه عبارت داسې ولوست "منے منے تقیل او فیرسین" Mene Mene, Tekel, u.phersin او ورته ئې ووې چې منے مطلب دا دے چې خدائے ستا د سلطنت حساب وکړو او ختم ئې کړو. د تقیل نه مطلب دا دے چې ووتلے شوے او سپک وختے. او اوفیرسین عبارت له دې خبرې دے چې ستا مملکت وویشلے او مادیانو او فارسیانو ته ورکړے شو. هم هغه شپه بیلطشضر ووژلے شو او دارایوش هغه مملکت چې دوه شپیتۀ کاله زوړ وۀ واخست. دغه Darius (داریوش یا دارا) سکندر مقدوني مد مقابل دارا (دارائے سویم) نه بلکې دارا ګشتاسپ، دارائے اعظم یا دارائے اول وۀ.

د تاریخي اسنادو له رویه سائرس چې د فارس او ماد حکومتونه ئې یو کړل بابل (هغه وخت چې نیبوندس Nabonidus ئې بادشاه وۀ او د مملکت امور ئې ولي عهد ته سپارلي وو) فتح کړے وۀ او د خپل تسلط لاندې ئې د بابل حکومت مقامي باچاهانو ته پریښود. بیا سائرس د زوي کمبوچه د مرګ نه پس چې د سائرس تربور دارایوش باچا شو او د دۀ وخت بابلیانو تمرد وکړ او ندنتو بعل چې نیبوندس په اولاد کښې د کیدو دعویدار وۀ او څ

ئې د بخت نصر ثالث په نامه بادشاه مشهور کړو نو داراېوش په بابل حمله او قبضه وکړه. (ایران د ګرشمین تالیف ص ۱۳۱، ۱۳۲، ۱۴۰ او تاریخ مفصل ایران تالیف د دکتر عبدالله رازي ص ۲۱، ۲۲)

په بائبل کښې هم د عزیر (Ezraعزرا) له کتابه معلومیږي چې سائرس بني اسرائیل ته اجازت وکړو چې خپل وطن ته بیرته لاړ شي او د جمات د جوړولو حکم ئې وکړو. او د جمات د سرو او سپینو زرو لوښي چې بخت نصر د بابل معبد ته راوړي او پکښې ئې ایښي وو ورته واپس کړل. (باب ۱ او باب ۵:۱۳ او باب ۲ : ۳) د دې نه اندازه کیږي چې د عزیر د کتاب له رویه بابل په اصل کښې هم سائرس فتح کړے وۀ. د عزیر په کتاب کښې د دغو احکام د اجرا کال د سائرس ورومبے کال دے. دا خبره وضاحت غواړي. سائرس د ۵۵۰ ق م خواؤشا د فارس او ماد د مشترک مملکت باچا شو او په ۵۳۹ ق م کښې ئې بابل فتح کړو. (د بائبل ویسټ منسټر قاموس) ممکنه بلکې اغلبه ده چې د سائرس بادشاه فارس ورومبي کال کښې د ورومبي کال نه مراد د بابل د فتح کولو او پرې د حکومت ورومبے کال وي.

په بائبل (دانیال) کښې بیلطشضر د بخت نصر زوے یاد شوے دے حال دا چې دے د نیبوندس زوے وۀ. (د بائبل ویسټ منسټر قاموس) د قاموس مدون د دې دا توجیه کوي چې هرکله بیلطشضر د بخت نصر د لور زوے وۀ نو دې دپاره ورته د دانیال په کتاب کښې د بخت نصر زوے وئیلے شوي دي.

۵. په پښتو ترجمه کښې دا تورے نشته. د دوړن د ترجمې (ص ۲۵ Especially) په بنا علاوه شو. په ن ز ۲/۳۱ او ن ح جلد ۱ ص ۷۴ کښې عبارت داسې دے : ''جماعتے کہ برایشان موکل بودند آن گروہ را از حدود پادشاہی بخت نصر برآوردہ در کوہستان ولایت غور و غزنی و کابل و فیروزہ کوہ و قندہار و آن نواحی کہ داخل اقلیم پنجم و ششم است از ولایت خراسان و کوہستان رسانیدند۔ پس فرزندان افغان در آن ولایت طرح اقامت انداختند و ساکن شدند۔'' یعنې هغې ډلې چې په هغوي مقرره وه د بخت نصر د بادشاهۍ له حدودو ئې هغوي وویستل او په کوهستان کښې د ولایت غور او غزني او کابل او فیروزه کوه او قندهار او د هغو خواؤشا چې پینځم او شپږم اقلیم کښې داخل او له ولایته د خراسان او کوهستان دي ورسول. نو د افغان اولاد په هغه ولایت کښې استوګه ونیوه او هورې ایسار شول.

۲. ن ز ۱/۳۲ و ن ح جلد ۱ ص ۷۶ کښې بصره (بَ صْ رَ ة) ده. بصره عراق کښې د دجلې او فرات ګډون ځائے ته نزدې واقع ده. یو بل ځائے بصرئ په شام کښې واقع دے. چې د دمشق جنوب ته ځخو مشرق رویه د یرموک سیند ته نزدې پروت دے او هرکله چې د

بحث د لاندې ځائے نوم حلب (چې شام کښې دے) او شام سره اخستے شوے دے او د عراق عرب ذکر د شام نه پس کیږي نو زما ذوق ته د بصره په ځائے بُصري زیاته نزدې ده. ترتیب هم لکه چې د واقعاتو په رڼا کښې به ښکاره شي محل نظر دے.

ډورن (ص ۲۶) "... مصر Egypt حلب، شام او عراق عرب" هم صحیح نهٔ دے او ترتیب ئې هم محل نظر.

۷. مط فارسي نسخې ن ز ۱/۳۲ و ن ح جلد ۱ ص ۷۲ پښتو ترجمه "رجحان او تفصیل" یا "رجحان الخ" التجائیه او د امید حامل دے. فارسي عبارت داسې دے : "اگر مایہ سعادت ملازمت آن پیغمبر مشرف نتوانیم شد اولاد و اسباط مارا اگر طالع یاوری نماید بدولت خدمت او مشرف خواہند شد۔" ن ز ۲/۳۲ ن ح جلد ۱ ص ۷۶ یعنې "کهٔ مونږ د خدائے تعالیٰ د هغه پیغمبر د ملازمت سعادت بیا نهٔ مونده شو نو زمونږ اولاد او نمسي کهٔ بخت ئې مل وي د هغوي په خدمت به ونمانځلے شي.

ص ۳۲

د سرور کائنات فخر موجودات سید المرسلین خاتم النبیین شفیع المذنبین رحمة للعٰلمین حضرت محمد مصطفیٰ احمد مجتبیٰ ﷺ و علیٰ آله و اصحابه اجمعین د ولادت باسعادت مبارکه او عظیمه ورځ د ځنو روایاتو او آثارو په بنا عام طور سره ګل (پیر) ۱۲ ربیع الاول په عام الفیل (هغه کال چې ابرهه چې په فوځ کښې ئې هاتي هم وو په مکه معظمه ناکامه حمله کړې وه) ګڼلې شوې ده. (وګورئ سیرت ابن هشام اردو ترجمه جلد ۱ ص ۱۵۳ او انګریزي ترجمه ص ۶۹، ابن خلدون اردو ترجمه جلد ۳ ص ۷،۸) اګر کهٔ په دا خبره خو د ارباب سیر اتفاق دے چې آفتاب صداقت او خورشید هدایت له برج سعادت هم په عام الفیل کښې طلوع کړے وهٔ او دا خبره هم په اتفاق منلې شوې ده چې د ربیع الاول په میاشت ئې هم د ګل په ورځ د رڼتینې سباؤن مال دا ظلماني دنیا نوراني کړه. خو د تاریخ په باب ځنځو اختلاف وهٔ خو لکه چې مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم (قصص القرآن جلد ۴ ص ۲۵۸) فرمائي چې د تاریخ او حدیث د مشهورو عالمانو او د دین د جلیل المرتبه امامانو لکه حمیدي، عقیل، یونس بن یزید، ابن عبدالله، ابن حزم، محمد بن موسیٰ، خوارزمي، ابوالخطاب ابن رحیه، ابن تیمیه، ابن قیم، ابن کثیر ابن حجر عسقلاني، او شیخ بدرالدین عیني هم دغه رائ ده چې ظهور قدسي په ۹ ربیع الاول شوے وهٔ. او اوس ریاضي دانو او هیئت دانو هم دا خبره محققه کړه. (د مفصل بحث دپاره وګورئ ص ۲۵۴ـ ۲۵۸) نو د جناب خلیلؑ او جناب ذبیحؑ د دعا د اجابت او د جناب کلیمؑ او جناب مسیحؑ د بشارت د صداقت د ظهور ورځ ۹ ربیع الاول مطابق د ۲۲ اپریل ۵۷۱ء وه.

ربیع الاول امیدوں کی دنیا ساتھ لے آیا
دعاؤں کی قبولیت کو ہاتھوں ہاتھ لے آیا
خدا نے ناخدائی کی خود انسانی سفینے کی
کہ نوریں رات بر سی بن کے رحمت اس مہینے کی (حفیظ جالندھری)

"ربیع الاول د امیدونو دنیا او د دعاگانو قبلیدنه خان سره لاس تر لاس راوړه. خدائے پخپله د انساني سفینې ناخدائي وکړه چې د دې میاشتې نهمه شپه څړه رحمت جوړه راووریده." (له بناغلي شاعره د معذرت سره چې هغوي "دولسمه شپه" "بارہویں شب" (کہ برسی بارہویں شب بن کے رحمت اس مہینے کی) لیکلې ده کۀ په "نوریں" کښې د واؤ تشدید د اهل زبان تلفظ سره سم نۀ وي نو له اردو ویونکو معذرت. زما د وزن تقاضا د نظر د وړاندې وه. د ظهور قدسي د ورځې له پاره شوؤ اسنادو علاوه وګورئ د سیرت ابن هشام د اردو ترجمې ص ۱۵۳ حاشیه چې پکښې د رحمة للعٰلمین د قاضي سا ،مان صاحب منصور پوري مرحوم تالیف جلد ۱ او د سیرت النبي د مولینا شبلي مرحوم تالیف جلد ۱ په حواله ۹ ربیع الاول ۲۲ اپریل ۵۷۱ء د ولادت باسعادت ورځ ښئیلې ده او بیا "محمد دې پر افتِ" تالیف د حافظ غلام سرور ص ۵۲، ۵۳ هم وګورئ.)

"دنیا چیرې قبیله او کورنۍ هم نۀ وه خبر چې د مذاهب عالم [د منونکو] د کوم آفتاب رسالت راختو ته سترګې دي هغه به په دې غیر متمدنه زمکه د عبدالمطلب په کورنۍ کښې جلوه کاندې چې د دۀ د باسعادته ولادت تاریخ نُره ئې خاص اهمیت ورکړے او خپلو سینو کښې ئې محفوظ ساتلے وے. خو د کائناتو د کوم خالق د تقدیر لیک چې د هغۀ د وجود د تقدیس فیصله کړې وه هم د هغۀ د قدرت لاس د بختور زیږون یو معجزانه تاریخي نخښنه څرګنده کړه او هغه د اصحاب الفیل واقعه وه."

"معتبر او مستند روایات ګواهي لې چې د نبي اکرم ﷺ ولادت له دې واقعې څو میاشتې پس شوے وۀ."

"دا واقعه چې د کومو خصوصیاتو لرونکې ده د هغو د نظر د وړاندې دا د عرب دپاره عموماً او د حجاز د خلقو دپاره ډیره عجیبه او حیرانونکې وه له دې قبله هغو دا هیچرې نۀ شوه هیرولې نو دې دپاره هغوي د دې [د کال] نوم هدو عالم الفیل [د هاتیانو کال] کېښود. خو هغوي په دې له پوهیدو پاتې وو چې په اصل کښې دغه واقعه یوه نخښنه ده. د هغه جلیل القدر وجود د ظهور چې یوه ورځ به ګرده انساني ابادي د توحید په مرکز او د ابراهیمؑ په قبلې جمع کړي. دا (د توحید مرکز او د ابراهیمؑ قبله) به د غیر الله [بتانو] له آلودګیو پاکه کړي

چې بس هم د توحيد الٰهي نغمې پکښې وئيل شي." (قصص القرآن جلد ۴ ص ۲۵۴، ۲۵۵ په ترجمه کښې ولاړې ليندی له ما دي.

د آفتاب رسالت مطلع د مکې په پاکه زمکه د قريشو د سردار عبدالمطلب کور وۀ. په هغه زمکه چې اووۀ واره اسمانونه ورته له ادبه ټيټ دي هم په هغه زمکه چې چرته د توريت د بيان له رويه د خدائے فرښتې بي بي هاجرې ته له اسمانه غږ کړے وۀ.

"څۀ دي زهيرې هاجرې، ومۀ ويرېږه چې خدائے د هلک اواز چې کوم ځائے هغه دے واوريد. پاسه هلک وچت کړه او په خپلو لاسو کښې ئې ونيسه. زۀ به له هغۀ يو لوے ملت جوړوم." (تکوين ۲۱: ۱۷، ۱۸)

هم په هغه زمکه چې په کومه ابراهيمؑ او اسماعيلؑ چې د کعبې ديوالونه ئې خيژول له خدايه خواست کړے وۀ: "وَ اِذْ يَرْفَعُ اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَ اِسْمٰعِيْلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ () رَبَّنَا وَ اجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَ مِنْ ذُرِّيَّتِنَا اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَ اَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَ تُبْ عَلَيْنَا اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ () رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَ يُزَكِّيْهِمْ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ () (۲: ۱۲۷ - ۱۲۹)

ترجمه: او چې کوم وخت ديوالونه وچتول د خانه (کعبې) ابراهيمؑ او اسماعيلؑ (نو وئيل ئې چې) يه زمونږه ربه (دغه خدمت) له مونږه قبول کړے تحقيق چې هم تۀ (د هر څۀ او هر چا) اوريدونکے او علم لرونکے ئې. يه زمونږه ربه مونږ خپل (نور هم زيات) فرمانبرداره کړے او زمونږ له اولاده هم يو جماعت پيدا کړے چې ستا فرمانبردار وي او راوښيے طريقې د عبادت او وۀ مو بخښيے تحقيق تۀ ډيره توجه او مهرباني کونکے ئې. يه زمونږه ربه او وليږه دوي ته يو پيغمبر هم له دوي ځنې چې دوي وته ستا آيتونه لولي او کتاب ورښيي او حکمت (ئې) او (دغسې) دوي پاکوي. تحقيق هم تۀ غالب ئې (او) د حکمت څښتن.

مونږ د دې نه وړومبے د حضرت سليمان عليه السلام د وصال کال ۹۳۱ ق م ښئيلے دے او هر کله چې د دوۀ کونو د سردار د مبارک زيږون بختور کال ۵۷۱ء دے نو دغسې تقريباً "زر پونصو" (هزار و پانصد) يعني پنځلس سوه کلونه ۹۳۱ + ۵۷۱ = ۱۵۰۲ د حضرت سليمان عليه السلام د وصال او د حضرت سرور کونين رسول الثقلين ﷺ دې دنيا ته د تشريف راوړو تر مينځه تير شوي وو.

د حضرت رسالت مآب ﷺ شجره طيبه دا ده:

عدنان

معد

نزار

مضر

الیاس

مدرکه

خزیمه

(د جمهور په نزد ئې نوم عمرو او د څنو په نزد عامه دے)

کنانه

نضر (اصلي نوم قیس)

مالک

فهر

(د څنو په نزد ئې اصل نوم قریش او د څنو په نزد ئې هم فهر اصل نوم او لقب قریش وۀ.

غالب

لوي

کعب

مره

کلاب

قصي (اصلي نوم زید)	زهره
عبدمناف (اصل نوم مغیره)	عبد مناف
هاشم (اصل نوم عمرو)	وهب
عبدالمطلب (اصل نوم شیبه)	سیده حضرت بي بي آمنه
سیدنا حضرت عبدالله	

سیدالانام حضرت محمد ﷺ

(سیرت ابن هشام اردو ترجمه جلد ۱ ص ۱ انګریزي ترجمه هم ص ۱ .... (اردو ترجمه جلد ۱ ص ۵۲ او انګریزي ترجمه ص ٦٨)

دغه شان د والد ماجد په واسطه په اووم او امي مکرمي په واسطه په شپږم پښت کښي شجره یو شي. او دغه مبارکه سلسله په حضرت ابراهیم خلیل الله علیه السلام د هغوي د مشر زوي حضرت اسماعیل ذبیح الله علیه السلام په واسطه منتهي کیږي. (سیرت ابن هشام اردو ترجمه جلد ۱ ص ۱،۲ و انګریزي ترجمه ص ۱) د عدنان او حضرت اسماعیلؑ تر

مینخه په کړو کښې د اهل انساب اختلاف دے او جناب مخبر صادق رسالت مآب ﷺ هم فرمائیلي دي چې د عدنان نه بره نسابانو غلط بیاني کړې ده. (قصص القرآن جلد ۱ ص ۱۳۵ و جلد ۴ ص ۲۵۸ ـ ۲۶۰) خو دې کښې کلام او د شک گنجائش نشته چې عدنان او له هغهٔ کښته پښتونه ټول د حضرت اسماعیلؑ بن ابراهیمؑ بن آزر اولاد دي. له دې قبله د سیرت ابن هشام د اردو ترجمې جلد ۱ ص ۱ څلورمه حاشیه "عدنان سے اوپر شجرہ نسب کے متعلق کوئی چیز قطعی نہیں۔" یعنې "له عدنانه بره د شجره نسب په لړ کښې هیڅ څیز قطعي نهٔ دے." څخو محل نظر ده. گوندې د اردو ترجمې د فاضل محشي مطلب هم هغه څهٔ وهٔ څهٔ چې لږ وړاندې مونږ ووې خو له عدنانه بره د شجرې په غیر قطعیت زور اچولو دپاره د الفاظو په انتخاب او استعمال کښې ترې مبالغه شوې ده.

په هرحال څنگه چې په سیرت ابن هشام کښې تر آدم علیه السلام پورې شجره ورکړې شوې ده. پاتې کړی ئې دا دي: عدنان بن اد (یا ارد) بن مقوم بن ماحور بن تیرح بن یعرب بن یشجب بن نابت بن اسماعیلؑ بن ابراهیمؑ خلیل الرحمٰن، بن تارح (اصلي نوم آزر) بن ناحور بن سارولم بن راعو بن فالخ بن عیبر بن شالخ بن ارفخشد بن سام بن نوحؑ بن لمک بن متوشلخ بن اخنوخ (بعضې خلق هم دوې نبي گڼي او ادریسؑ د آدم په اولاد کښې وړومبے کس دے چې نبوت ورو بخښلے شو او چې ئې د قلم لیک ایجاد کړو) بن یرد بن مهلیل بن قینن بن یانش بن شیث بن آدم صلي الله علیه وسلم." او د یوهٔ بل له رویه ئې له حضرت اسماعیلؑ تر حضرت آدمؑ پورې څنې نامې په اختلاف ورکړې دي. لکه د ساروغ بن راعو په ځائې اسرغ بن ارعو د عیبر په ځائې عابر، د مهلیل په ځائې مهلایل، د قینن په ځائے قائن، د یانش په ځائے انوش. دا او څنې نورې نامې هم له دې وړومبے ستاسو تر نظره تیرې شوې دي. د ابن هشام یا د عربو نابت هم د بائبل نبیوت دے. (اردو ترجمه جلد ۱ ص ۱، ۲ انگریزي ترجمه ص ۱) ابن خلدون لیکي چې اکثر علماء عدنانیان د نابت بن اسماعیل اولاد گڼي. اگر کهٔ د څنو ورسره اختلاف دے او وائي چې عدناني عرب د قیدار بن اسماعیل اولاد دي خو د نسب عالمانو بې له نابته د اسماعیل د بل زوي د اولاد تذکره نهٔ ده کړے. (اردو ترجمه جلد ۱ ص ۸۸ په عکس وگورئ طبقات ابن سعد اردو ترجمه جلد ۱ ص ۸۵، ۸۶ سیرت النبي جلد ۱ ص ۱۶۰ رحمة للعلمین جلد ۲ ص ۷ ـ ۱۸)

تاسو د وروستي صفحې ص ۳۱ په اخري نوټ او هم په متعلقه صفحه کښې ولوستل چې د پښتنو اسلاف (چې د مخزن افغاني یا تاریخ خان جهاني مؤلف ئې لکه د څنو نورو مؤرخانو او تذکره نویسانو بني اسرائیل گڼي) د نبي اخر الزمان ﷺ د بعثت او ظهور

منتظر وو د بني اسرائيل (قطع نظر له دې بحثه چې ښتانۀ بني اسرائيل دي او کۀ نه) د دې انتظار سبب د هغوي د مقدسو کتابونو پيش گويي وے لکه چې خوشحال بابا هم په يوه نعتيه قصيده کښې وائي:

کۀ تورات دے کۀ زبور دے کۀ انجيل دے
دا همه د دۀ د نام سره مرقوم دي

زمونږ د دغه عقيدې اساس پخپله د قرآن شريف ارشادات او د حضرت رسالت مآب فرمودات دي. الله تبارک و تعالیٰ انسان ته په خپل اخري، جامع او مکمل پيغام او عظيم کتاب قرآن حکيم کښې فرمائي:

"اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ" الخ (سورة اعراف ۷:۱۵۷)

ترجمه: هغه کسان چې پيروي، کوي د رسول نبي نالوستي چې ئې بيا مومي ليکلے څان سره په توريت او انجيل کښې. الخ.

او هر کله چې په بني اسرائيل کښې وړومبے صاحب کتاب پيغمبر حضرت موسي عليه السلام چې د يهودو او نصاريٰ ؤ په مقدسو کتابونو کښې هم د هغوي کتاب توريت د پنځ کتاب په شکل کښې سر فهرست دے او د بني اسرائيل اخري پيغمبر حضرت عيسیٰ عليه السلام صاحب انجيل دي نو د وړومبي او اخري کتاب ذکر په تر مينځه کتابونو سره د حضرت داؤد عليه السلام د کتاب زبور حاوي دے.

او بيا رسالت مآب ته او ورسره ټول انسانيت ته حکم او ارشاد دے:

قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا ۨ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَ يُمِيْتُ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَ كَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ() (اعراف ۷: ۱۵۸)

ترجمه: ووايه اے خلقو تاسو ټولو طرف ته زۀ رسول يم د الله چې ورلره بادشاهي ده د اسمانونو او زمکې نشته څوک معبود بې له هغۀ. ژوندونکے او وژونکے دے نو ايمان راوړئ په الله او د هغۀ په رسول نبي نالوستي هغه چې ايمان لري په الله او د هغۀ په حکمونو او د هغۀ پيروي وکړئ چې راشئ لارې (سمې) ته.

په سورۀ صف: ۶ کښې د الله پاک ارشاد دے:

"وَ اِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَ مُبَشِّرًۢا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗۤ اَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا

سِحْرٌ مُبِيْنٌ ()"

ترجمه : او (د يادولو دے هغه وخت) کله چې عيسیٰ د مريم زوې ووې يه بني اسرائيل زهٔ تاسو طرف ته د الله رسول يم تصديق کونکے د تورېت چې له ما وړومبے (راليږلے شوے) دے او زيرے ورکونکے (يم) د هغهٔ رسول چې پس له ما راتلونکے دے احمد ئې نوم نو چې هغه ورلره راغلو سره د څرګندو دليلونو نو ووې هغوي چې دا (دليلونه) ښکاره جادو دے.

د جناب رسالت مآب ارشاد دے "دعوة ابي ابرهيم و بشرىٰ و عيسىٰ" يعني زهٔ د خپل بابا جي ابراهيمؑ دعا او د عيسیٰ عليه السلام زيرے يم. (قصص القرآن جلد ۴ ص ۲۵۲)

او قرآن مجيد مجموعي طور سره بلا تخصيص هم وړانديني کتابونه ياد کړي دي او فرمائيلي ئې دي چې دا قرآن په هغو کښې مذکور دے. "وَ اِنَّهٗ لَفِیْ زُبُرِ الْاَوَّلِیْنَ" يعني تحقيق د دې (قرآن) ذکر د وړومبو (امتونو) په (مقدسو) کتابونو کښې (هم) شته. (شعراء ۲۶: ۱۹۶) او وړپسې ارشاد دے "اَوَ لَمْ یَکُنْ لَّهُمْ اٰیَةً اَنْ یَّعْلَمَهٗ عُلَمٰٓؤُا بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ" يعني "آيا دوي دپاره دا دليل نهٔ دے چې د بني اسرائيل عالمان (هم) خبردار دي له دغه حقيقته. (۱۹۷)

مونږ ګورو چې د سورهٔ اعراف په آيات بينات کښې جناب رسالت مآب ته امر فرمائيلے کيږي چې ټول انسان ته دعوت او هدايت وکړي. په سورهٔ شعرا کښې ارشاد دے چې قرآن حکيم په لرغونو مقدسو کتابونو کښې هم ياد شوے دے او په سورهٔ انبيا کښې جناب رسالت مآب ته فرمائيلے کيږي چې "وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِیْنَ" نهٔ ئې ليږلے مونږ تهٔ مګر رحمت د عالمو دپاره. (۱۰۷) او په سورهٔ سبا ۳۴: ۲۸ کښې هم جناب رسالت مآب ته خطاب دے چې "وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِیْرًا وَّ نَذِیْرًا وَّ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ" يعني نهٔ ئې ليږلے مونږ تهٔ مګر ټولو خلقو لره (د ايمان او ښهٔ عمل د جزا) زيرے ورکونکے او (د کفر او بد عمل له سزا) ويرونکے خو اکثر خلق نهٔ پوهيږي.

اعراف، صف، شعراء، انبياء او سبا ټول مکي سورتونه دي او له دېو چې کومو آيتونو مبارکو ته حواله وشوه ترې صفا ښکاريږي چې د حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ له ابتدا هم دغه دعوه وه چې هغوي کوم يوهٔ خاص قام يا ملک دپاره نه بلکې د ټول عالم انسانيت د هدايت دپاره راليږلے شوي دي. سورهٔ علق ۹۶ مکي او له ډېرو ابتدائي سورتونو دے چې وړومبې پينځهٔ آيتونه خو ئې له ټولو وړومبۍ وحي ده. په دغو پينځو او وړپسې (شپږم آيت) کښې الله پاک فرمائي:

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ () خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ () اِقْرَاْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ () عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ () كَلَّآ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَیَطْغٰٓى ()

ترجمه: لوله سره د خپل رب د نامې چا چې پيدا کړۀ (هر څۀ هر شوک) پيدا ئې کړ انسان له چکه وينې لوله او ستا رب ډير کرم کونکے دے چا چې د قلم په ذريعه ښودنه وکړه وې ښودل انسان ته هغه څۀ چې نۀ وۀ ترې خبر تحقيق بيشکه انسان له حده تير شي.

په دغو مبارکو آيتونو کښې په انسان د الله جل شانه د کرم او مهربانۍ د ذکر نه پس لکه چې زمونږ استاد ډاکټر سيد ظفر الحسن صاحب مرحوم فرمائيل د انسان د سرکښۍ د ذکر هم دا مطلب دے چې حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ د ټول عالم انسانيت چې دغه وخت ئې د حق سمه او روښانه لار پريښے وه او د باطل د ګړنګونو په تورو تيرو کښې سرګردانه او ځان ترې ورک وۀ د تباهۍ او بربادۍ نه ژغورلو په سمه لار د اچولو او د امن او سلامتيا، د نجات او فلاح منزل مقصود ته د رسولو دپاره رالیږلي شوي وو. او د حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ د بعثت په وخت د انسان دې عمومي بغاوت او سرکښۍ او د دنيا خراب او ابتر حالت ته په سورۀ روم ۳۰: ۴۱ کښې دغو مبارکو او واضحو الفاظو کښې اشاره ده:

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ()

ترجمه: خور شو فساد په وچه او په اوبو د وګړو له عمله نو بايد چې وڅکولے شي پرې (ثمره) د ځنې له هغه څۀ چې ئې وکړل دپاره د دې چې راوجاروځي.

مولانا شبير احمد صاحب عثماني مرحوم د دې آيت په تفسير کښې ليکي "يعني خلق په دين فطرت قائم پاتې نۀ شول، کفر او ظلم په نړۍ کښې خور شو او له شامته ئې په ملکونو او ټاپوانو کښې خرابي خوره شوه. نۀ په اوچه امن او سکون پاتې شو او نۀ په اوبو د زمکې مخ فتنې او فساد ونيوۀ. له بحري جنګونو او د جهازونو له ناتاره په سمندرونو کښې طوفان راولاړ شو ځکه چې خدائے وغوښتل چې په بندګانو د هغوي د بد عملو څخو خوند په دې دنيا کښې وڅکولے شي پوره سزا خو به په اخرت کښې بياموې خو چې څۀ نمونه ئې په دې دنيا هم ورښکاره کړو. ممکنه ده چې بعضې خلق ويرېږي او په سمه لار راشي (تنبيه) د بندګانو د بدعملو له قبله په اوچه او اوبو د خرابۍ خوريدنه اګر کۀ هميشه شوې ده او کيږي به خو د بعثت محمدي ﷺ نه وړومبے چې په کوم خوفناک عموم و شمول دغه توره لړه په خاتيز او لويديز او په اوچه او اوبو خوره شوې وه د نړۍ په تاريخ کښې ئې نظير نۀ شي بياموندل کيدے. د يورپ محققانو چې د هغې زمانې د تاريک حالت کومه نقشه راښکلې ده له ليدو ئې اندازه کيږي چې غير مسلمو مؤرخانو هم په دې صداقت څۀ حرف ګيري ونۀ کړے شوه. (وګورئ دائرة المعارف فريد وجدي ماده حمد) سکه هم دغه عامه فتنه او فساد د

نظر د وړاندې قتاده رحمة الله علیه د دغه آیت محمل د جاهلیت زمانه ټاکلې ده."

مولوي محمد علي قادیاني (لاهوري) د دغه آیت په تفسیر کښې لیکي:

"تاریخ د دغه الفاظو په صداقت ګواهي لي د رسول مقدس ﷺ له بعثته وړومبې دنیا په ټولو ملکونو کښې خرابي خوره وه. له بحره دلته مراد ټاپوان کیدے شي. تیارهٔ د دنیا په ټولو ملکونو خوره وه او هم ترې د وګړې عقائد او هم اعمال متاثره وو. یهودیت، هندویت، بودهائیت، کنفیوشسوالے او زردشتیت له ډیرو مودو راسې خپلو منونکو په ژوند صحت مند اثر له اچولو پاتې راغلي وو. او د دغو مذهبونو پیروکارانو نهٔ صرف نیک عملي پریښې وه بلکې له بدو بد دا چې د بدو په بنو ګڼلو ئې شروع کړې وه او ډیرو له هغو خنې خپلو بزرګانو او معبودانو ته د ناشائسته او له اخلاقو خلاف کارونو نسبت کولو. نصرانیت چې هغه وخت د دنیا په مذهبونو کښې له ټولو نوے وهٔ هم خپله خالصتیا ورکه کړې وه. د میور فتوئ ده چې د شپږمې صدی نصرانیت شل ګوډ او لړلے وهٔ. داسې پراخه خوره خرابي وړومبې چرې د دنیا په تاریخ کښې نهٔ وه شوے د رانزدې زمانې یو لیکوال جے ایچ ډینې سن په "جذبه په طور د تمدن د اساس" کښې لیکي: "په پینځمې او شپږمې صدی کښې نړی د انتشار په مور ګه ولاړه وه. زاړهٔ جذباتي ثقافتونه چې تمدن ئې له دې قبله ممکن کړے وهٔ چې انسان له ئې د وحدت او حاکمانو د احترام احساس ورکړے وهٔ راپریوتې وو او د هغو د ځائے اخستو دپاره لا څهٔ موزون نهٔ وومونډلي شوي.... نو هغه وخت هسې لیدهٔ شول چې عظیم تمدن چې جوړیدو لره ئې څلور زره کلونه اخستي وو د تسنستیا په مورګه وهٔ او عالم انسانیت د وحشت هغه حالت وته جاروتونکے لیدهٔ شو چې په کوم کښې یوه قبیله د بلې خلاف وه او پکښې قانون او ربط و ضبط مفقود وهٔ.... تمدن لکه د یوې دنګې پیړې ونې چې دنیا ئې تر پانو لاندې وه...رقیدونکے، پریوتونکے تر ویخه خوړلے شوے ولاړه وه. (ص ۲۶۵ ـ ۲۶۸)

او په عربستان د ونیا په لړ کښې علاوه کوي: "دا د دغو خلقو په مینځ کښې هغه سړے زیږیدلے وهٔ چې د خاتیز او سهیل ټوله معلومه دنیا به ئې سره یو کوله." (ص ۲۶۹) او بیا دغه مفسر پس له دې اقتباسه لیکي: "د اسلام په رڼا او د علم او تمدن هغې شمعې سره چې په عربستان کښې بلې کړې شوه نهٔ صرف په عربستان بلکې په نورو ملکونو کښې د یوهٔ نوي دور طلوع وشو. یورپ له نورو تر زیاته وخته په تیارهٔ کښې وهٔ او دا د مسلمانانو په هسپانیه کښې د علم د مشال د بلولو نه پس وه چې نشاة ثانیه او د اصلاح تحریک راغلل." (وګورئ انګریزي ترجمه او تفسیر د ۱۹۲۰ء او ۱۹۵۱ء ایډیشنونه نوټ ۱۹۴۱)

هم دغه مفسر خپل اردو تفسر کښې لیکي: "....له قتاده روایت دے چې دغه فساد

د بعثت نبوي ﷺ نه وړومبے وۀ. او د فساد نه مراد په دغه حالت کښې شرک او د هر قسمه بدی دور دوره ده. او د دنیا تاریخ په دې خبره ګواه دے چې تیارۀ، جهالت او بدي د نبي کریم ﷺ د ظهور نه وړومبے خپل کمال ته رسیدلې وه.... "(وګورئ اردو ترجمه او تفسیر دریم جلد نوټ ۲۵۹۷)

نو په څلور کُنجه دنیا کښې خور فساد ته له دغه واضحې اشارې هم دا مراد دے چې د رسول اکرم ﷺ له بعثته مقصد هم د ټولې دنیا له باطله حق لورې ته راجاراېستل او د کفر او بدکاری له تورو تیرو رااېستل او د ایمان او نیکو کاری لورې ته راوستل وو. او دې دپاره د سورۀ انعام ٦ : ٩٢ "وَ هٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِیْ بَیْنَ یَدَیْهِ وَ لِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰی وَ مَنْ حَوْلَهَا الخ" یعنې او دا برکت ناک کتاب مونږ نازل کړ ترې د وړاندې (کتابونو) تصدیق کونکے او دې دپاره چې ته د مکې او د خواؤشا خلق ویروې. او د شورئ ٤٢ : ٧ "وَ كَذٰلِكَ اَوْحَیْنَاۤ اِلَیْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰی وَ مَنْ حَوْلَهَا الخ" یعنې او دغسې مونږ عربي قرآن تاته وحې کړ چې ته د مکې او د خواؤشا خلق ویروې الخ. دا مطلب هیڅ کله نۀ شي کیدے چې ګوندې د حضرت سرور عالم ﷺ چرې دا دعوئ وه چې د هغوي دعوت تر مکې او خواؤشا ئې یا صرف تر عربو محدود دے بلکې دغه ځایونو کښې د مکې دپاره د ام القرئ نوم یا لقب هم عجیبه او لطیف حکمتونه لري. د ام القرئ معنئ ده د ښاریو یا ابادو مور او هر کله چې مکه د زړې دنیا په وسط کښې واقع ده او نوې دنیا ترې لاندې ده نو د مکې خواؤشا صرف د عرب آبادي نه بلکې ګرده دنیا ده او مکې ته ئې دې دپاره هم ام القرئ وئیلي دي چې یوه ورځ دا د ټولې دنیا روحاني مرکز ګرځیدونکې وۀ. نو قطع نظر له جغرافیائي حیثیته چې په هره وجه ئې مکې ته د انساني ابادو مور ووې نو د دې خواؤشا صرف د عربو علاقې یا عربي ملکونه نۀ شي کیدے بلکې نوره ګرده نړی هم. (وګورئ په ٦ : ٩٢ د مولانا شبیر احمد صاحب عثماني مرحوم فائده او د مولوي محمد علي قادیاني اردو ترجمه او تفسیر جلد ۱ نوټ ٩٨٢ او انګریزي ترجمه او تفسیر ١٩٢٠ء او ١٩٥١ء ایډیشنونه نوټ ٧٩٩) نو له دیو مبارکو آیتونو هم ښکاره شوه چې کۀ هر څو لکه چې قدرتي او ضروري وه د رسول اکرم ﷺ د دعوت وړومبي مخاطبان د مکې او د خواؤشا خلق وو خو دغه دعوت عالمګیر، آفاقي او ابدي وۀ.

نو د بني اسرائیل په کتابونو کښې د جناب رسالت مآب په حقله د بشارتونو له قبله نۀ صرف بني اسرائیل د آنحضرت ﷺ منتظر وو بلکې د نورو مذاهبو په مقدسو کتابونو کښې هم د عالمینو د هادي په حقله بشارتونه شته او دې دپاره ووئیلے شول چې هغوي هم د ظهور

منتظر وو. اوس نو مونږ د څنو غیر مسلمو ډلو له مقدسو کتابونو یو څو هغه بشارات، پیش گویی چې د نبي اخر الزمان ﷺ په حقله پکښې موجودې دي لوستونکو ته وړاندې کوو:

الف : توریت کتاب استثنیٰ ۱۸ : ۱۵ ـ ۲۰)

"پروردگار ستا خدائے تا لره هم ستا تر مینځه ستا له وروڼو ستا په شان یو نبوي ولاړوي. تاسو چې هغهٔ ته غوږ ونیسئ () د هغه هر څهٔ په شان چې تا له خپله خدایه په حودب کښې د ټولنې په ورځ وغوښتل او وهٔ دي وې چې د خدائے غږ دې بیا وا نهٔ ورم او نهٔ دې بیا دا لوے اور وګورم چې ونهٔ مرم () او پروردګار ماته ووې چې هغوي څهٔ ووې ښهٔ ئې ووې () زهٔ به دوي لره د دوي له وروڼو ستا په شان یو نبي ولاړوم او خپل کلام به د هغهٔ په خلهٔ کښې اچوم او څهٔ چې به ورته فرمایم هغه هر څهٔ به دوي وته وائي () او داسې به وي چې څوک زما خبرې چې هغه به ئې زما په نامه کړي نهٔ اوري زهٔ به ترې د دې حُواب غواړم () خو کهٔ نبي هم داسې جرأت وکړ چې یوه داسې خبره زما په نامه وکړي چې ما ئې ورته د کړو امر نهٔ وي کړے (او) یا کهٔ د نورو معبودانو په نامه ئې خبرې وکړے نو هغه نبي به هم هلاک کړے شي.

د بشارت وړومبی جمله دا ده "چې زهٔ به د دوي (بني اسرائیل) لره د دوي له وروڼو ستا په شان یو نبي ولاړوم" اوس نو د تاریخ له رویه د بني اسرائیل وروڼه خو هم بس بني اسماعیل دي او په بني اسماعیل کښې بې له حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ څوک تیر شوے دے چې د حضرت موسیٰ علیه السلام په شان صاحب شریعت نبي ورته ووئیل شي. بیا ارشاد دے "او خپل کلام به د هغهٔ په خلهٔ کښې واچوم او څهٔ چې به ورته فرمایم هغه هر څهٔ به دوي ته وائي." اوس نو د بشارت د دې حصې د قرآن پاک دغو آیتونو سره مقابله وکړئ:

"وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى () مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَ مَا غَوٰى () وَ مَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى () اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى() الخ" (سورۂ لنجم ۵۳: ۱ ـ ۴)

ترجمه: قسم دے د ستوري چې کوم وخت پریوزي ستاسو ملګري نهٔ لار خطا کړې ده او نه بې لارې روان دے. او نهٔ له خپله خواهشه وینا کوي نهٔ ده دا څهٔ نور څهٔ خو وحي ورلیږلے شوے.

مولانا شبیر احمد صاحب عثماني مرحوم د دغه آیتونو تفسیر کونکے "پریواتهٔ" د ډوبیدو غروب کیدو هم معنیٰ ښیي. او بیا فرمائي : "د ملګري نه مراد نبي کریم ﷺ دي. یعنې نهٔ خو دوي د غلط فهمی له قبله لار خطا کړې ده نهٔ ئې په قصد او اختیار سره د پوهې غلطه لار نیولې ده. بلکې څنګه چې د آسمان ستوري له طلوعه تر غروبه په مقرر رفتار په معینه لار روان وي هیڅ کله د هغه خوا دغه خوا کیدو نامه نهٔ اخلي. آفتاب نبوت هم د الله

تعالیٰ په مقرر کړې لاره برابر روان دے. ممکنه نۀ ده چې يو ګام هم هغه خوا يا دغه خوا شي. کۀ دغسې وشي نو بعثت سره ئې چې کوم غرض تړلے دے حاصل به نۀ شي. انبياء عليهم السلام د آسمان نبوت ستوري دي چې له رڼا او رفتاره ئې دنيا ته لار ښنيل کيږي او څنګه چې د تولو ستورو د پټيدو نه پس درخشانه آفتاب راخيژي نو هم دغه شان د ټولو انبياؤ د تشريف وړلو نه پس آفتاب محمدي ﷺ راوخوت. نو کۀ قدرت د دغو ظاهري ستورو نظام دومره محکم جوړ کړے دے چې پکښې د هيڅ قسمه تزلزل او اختلال ګنجائش نشته نو ښکاره ده چې د هغو باطني ستورو او روحاني آفتاب او مهتاب انتظام بايد چې څومره مضبوط او محکم وي چې د يو عالم هدايت او سعادت ورته اړ دے.

د خوشحال بابا د هغه قصيدې چې وړومبے ورته به دغه نوټ کښې حواله شوې ده مطلع ده:

انبياء تر محمد ﷺ پورې معلوم دي
لکه ستوري تر آفتاب پورې معدوم دي

نو زۀ به دومره نور ورسره د وئيلو رخصت وغواړم چې علاوه له هغه حقائقو چې بره رانقل کړل شول په پريوتونکي يا ډوبيدونکي ستوري قسم کښې دا لطيفه اشاره هم کيدے شي چې هغه وخت لکه چې بني اسرائيل ته ښنيلے شوے وۀ راغے او د هغوي د روحاني اقبال ستورے پريوتے دے او حسب وعده او بشارت نبوت د هغوي ورونو بني اسماعيل ته منتقل شو او دا هم هغه نبي دے چې د چا په باب جناب کليم الله عليه السلام له زبان حقيقت ترجمان دوي وته وئيلي شوي وو. چې د دغه نبي به خلۀ کښې به د خدائے کلام وي او دوي وته به هر څۀ هم هغه وائي چې څۀ ورته حکم شوے وي او له خانه به هيڅ نۀ وائي. او په دغه لړ کښې سورۀ مريم ۱۹ :۹۷ هم د غور وړ دے ارشاد دے: "فانما يسرنه بلسانك لتبشر به المتقين و تنذر به قوماً لدا" يعني نو بس مونږ آسان کړ دا (قرآن) ستا په ژبه چې پرې زيرے ورکړے پرهيزګارو ته او پرې ويرويے وران کاره خلق.

په خلۀ کښې د کلام اچولو او د حضور ﷺ په ژبه مبارکه هم د هغوي په ژبه عربي کښې د قرآن کريم غوندې د اعلیٰ او ارفع او حکيمانه کلام سوکه او هوار روانولو هم يو مفهوم دے. او بيا د انبياء عليهم السلام د دعوت او ارشاد او وعظ او تبليغ حاصل او مدعا هم داوي چې خپلو مخاطبينو ته هم هغه څۀ ووائي چې ترې ورته د نجات او فلاح لاره او هم د عتاب او عذاب لاره ښکاره شي او مؤمنانو او پرهيزګارانو ته د وړومبي زيرے ورکړي او کفار او بدکاران د بلې د اختيارولو له انجامه ويروي.

په بشارت کبنې بل ارشاد دا دے چې "او داسې به وي چې څوک زما خبرې چې هغه به ئې زما په نامه کړي نهٔ آورې زهٔ به ترې د دې ځواب غواړم." د قرآن مجيد ارشاد دے:
"فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَ جِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا () يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ عَصَوُالرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ وَ لَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا () (النساء ۴: ۴۱ و ۴۲)
ترجمه: نو هغه وخت به څهٔ حال وي چې کله به مونږ له هره يوهٔ امته يو يو ګواه راحاضر کړو او تا هم په دغه خلقو د ګواهي دپاره راحاضر کړو دغه ورځ هغه خلق چې کافران شول او د رسول وينا ئې ونهٔ منله غواړي به چې کشکے له زمکې سم شوے او هيڅ به له الله نه نهٔ شي پټولے.

دا به د سوال ځواب "حساب د غوښتنې" په وخت د خدائے له پيغمبرانو د مخ اړولو خصوصاً د "الرسول" د نافرمانۍ نتيجه وي چې کافران او نافرمانه خلق به والي چې کشکے له زمکې سم شوے.

په بشارت کښې د غور وړ اخري خبره دا ده چې "خو کهٔ هغه هم داسې ګستاخي وکړي چې زما په نامه کومه داسې خبره وکړي چې ما ئې ورته حکم نهٔ دے کړے او د نورو معبودانو په نامه ئې وائي نو هغه نبي به قتل کړے شي." په قرآن حکيم کښې د الله تبارک و تعالىٰ ارشاد دے:
"تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ () وَ لَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ () لَاَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ () ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ () فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِيْنَ () وَ اِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ () وَ اِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ () وَ اِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ () (الحاقه ۶۹: ۴۳ - ۵۰)
ترجمه: د عالمو له پروردګاره نازل شوے (کلام) دے او کهٔ په مونږ پورې ئې څنې خبرې تړلے وے نو مونږ به ئې ښے لاس نيولے وهٔ بيا به مو ئې د زړهٔ رګ پريکړے وهٔ او په تاسو کښې به ئې هيڅوک هم له دې ژغورونکے نهٔ وهٔ. بيشکه دا (قرآن) پرهيزګارو لره نصيحت دے او مونږ ښهٔ خبر يو چې څنې له تاسو دروغ‌ونکي دي او تحقيق دا (قرآن) کافرو لره پښيماني ده.

د بشارت وروستي ټوټې د دې خبرې چې کهٔ هغه نبي زمونږ د حکم او ارشاد برعکس له ځانه څهٔ وائي زمونږ په نامه هغه څهٔ وائي چې له مونږه نهٔ وي نو به وواژهٔ شي سره د مطابقت نه علاوه د قرآن حکيم په پوړتنو آيات بينات کښې هم د دروغ‌ونکو او نامنونکو حساب کتاب او سوال ځواب په وخت د حسرت، ارمان او پښيمانۍ ذکر دے.
د تورېت له ګڼو بشارتونو مونږ د يوهٔ په راوړهٔ اکتفا وکړه او هم دغه شان د زبور

ډېرو پيش ګويو هم يوه لوستونکو ته وړاندې کوؤ:

"هغه بـه ستا په خلقو کښې په صداقت حکم کړي او په مسکينانو کښې به عدالت. غـرونه او غونډۍ به خلقو لره له صداقته سلامتيا ظاهروي هغه به د قام د مسکينانو امداد کوي او د محتاجو زامن به ژغوري او ظالم به ټوټې ټوټې کوي چې تر څو نمر سپوږمۍ پاتې وي د ټولـو پښتونـو خلق به له تا ويرېږي. هغه به لکه په وهلې واښهٔ د باران نازلېږي لکه په شيبو د بـاران چې زمکـه خړوبه کړي. د هغهٔ په وخت چې تر څو سپوږمۍ وي ربښتيني به وېرېږي او سلامتيا بـه پـريـوانه وي. له دريابه تر دريابه او له سينده د زمکې تر سره به د هغهٔ حکم جاري وي. د بيابـان وسيـدونکي به ورته ټيټېږي او ميرخمن به ئې خاوري څټي. هو ټول بادشاهان بـه د هغـهٔ پـه مـخـکښـې پـرمـخ پـريـوځي. ټولې ډلې به د هغهٔ نمانځنه کړي ځکه چې هغه به فـريادیان، متازان او هغه څوک چې هيڅوک ئې مرستيال نهٔ وي خلاصوي. هغه به په مسکين او مـحتاجـه زړهٔ سـواندې وي او د محتاجو ځان به ژغوري. هغه به د هغوي ځانونه له ظلمه او غـضبه خلاصوي. د هغوي وينه به د هغهٔ په نظر کښې ډېره قيمتي وي هغه به ژوندے پاتې... د هغهٔ په حقله به تل دعاوي او هره ورځ به ورته مبارکي وئيل شي.... د هغهٔ نامه به تر ابده قائمه وي. چې تـر څـو نمر وي د هغهٔ د نامې به رواج وي. خلق به د هغهٔ له قبله ځان برکتيان بولي. ټول قامونه به ورته مبارکي وائي" پروردګار خدائے د اسرائيل خدائے هم يوازې عجيبه کارونه کـړې مبارک دے د هغهٔ جليله نامه تر ابده مبارکه ده ګرده نړۍ دې د هغهٔ په جلال پُره وي."

(زړه عهدنامه زبور ۷۲: ۲ - ۹، ۱۱ - ۱۵، ۱۷ - ۲۰)

د دغـه زبور په بشارت کښې د مشارٌ اليه موعود کوم صفات او خصوصيات چې بيان شـوي دي ښـائـي چې بـه هـر تـوري ئې وينا او بحث وشي خو د اختصار له مخه يو څو ډېري اهمې او جوتې خبرې د وينا او بحث دپاره چونو.

(۱) مـوعـود به صادق او عادل حاکم وي. د هغهٔ شريعت او بارګاه به صرف د غټانو او ځربو د نور غټـولو او ځربولو او بس هم د هغوي د ګټې او فائدې دپاره نهٔ وي. عاجزان خواران او لـوخ نهـر بـه تري هم هغسې يو شان بر او بار اخلي. سرهسکي، غرونه او غونډۍ زورور لوے وارهٔ واړه واکمن به د تالان او ناتار په ځائے امن او سلامتيا راوړي او ظاهروي.

(۲) مـحتـاجـان، بيوسـه فـريـاديـان چې هيـڅ يار او مددګار، مرستيال او ملاتړ ئې نهٔ درلهٔ به وژغورلے شي ځکه چې موعود به په هغو زړهٔ سواندې وي او د هغو وينه به د هغهٔ په نزد قيمتي وي.

(۳) پـه ځلور کنجه دنيا کښې به ئې حکم چلېږي. د بيابان خلق به ئې فرمانبردار او ميرخمن

به ئې خوار شي.

(۴) بادشاهان به ورته پرمخ پریوځي.

(۵) ژوندې به پاتې په حقله به ئې تل دعا وي، برکت به پرې وئیلې شي او له مخه به ئې وګرې خان برکتي بولي.

(۶) او زبور په دې دعا ختمیږي چې ټول جهان دې د خدائې په جلال پُر وي.

له نوره بحثه اګاهو باید چې د موعود د اخلاقو او شخصیت کومه نقشه چې په دغه زبور کښې راکښلې شوې ده مقابله ئې د هغو مبارکو هغې اخلاقي شهرې سره وکړو چې راکښونکیو ئې ورسره په یوهٔ یا بل شان په یوهٔ یا بل حیثیت تعلق لرلو او یا ئې معامله ورسره راغلې وه. دا یو معلوم او مشهور تاریخي حقیقت دې چې ترې چرې سخت نه سخت مخالف هم د انکار جرأت نهٔ دې کړې چې د نبوت او رسالت د دعوې نه اګاهو هم جناب رسالت مآب د خپلو عظیمو اخلاقو له قبله، له صداقت، امانت او دیانت له رویه صادق او امین بلل شول د امر حق د اعلان او دعوت نه پس ورته (معاذالله) مسحور، مجنون او شاعر ووئیل شول. خو دروغژن ونهٔ بلل شول. چې هغو مبارکو ته الله جل شانه امر وفرمائیلو چې د حق دعوت عام کړي نو هغه مبارک ﷺ په صفا غرهٔ وختل او غږ ئې وکړ چې "یه قریشو عالمو یه د قریشو عالمو" خلق خبر شوْل چې محمد ﷺ نعرې کړې راټول شول او هغه مبارک ﷺ ئې وپوښتل چې څهٔ دې ورته ئې وفرمائیل چې کهٔ زهٔ درته ووایم چې د دغه غرهٔ په شا یو لښکر په تاسو چپاوْ کولو ته تیار دې نو وبه ئې منئ. ټولو په یوه ژبه ووې "تهٔ بې داغه ئې هیچرې مو له تا دروغ وینا نهٔ ده اوریدلې" او چې حضور ﷺ ورته وفرمائیل چې نو بیا وګنئ چې زهٔ ستاسو د هدایت دپاره خدائې رالیږلې یم او له کفره او شرکه ئې ایمان او توحید طرف ته وبلل نو په ټوله ډله اوْ غونډه کښې د چا دا مجال نهٔ وهٔ چې څهٔ ئې د لوئې او وچت شخصیت او کردار په حقله وئیلې شوې وو په هغهٔ کښې ئې بکس قلدرې غلط هم په ګوته کړې وې کهٔ له چا څهٔ جوړ شول نو هم دا چې ابولهب بدبخته (خاکش بدهن) ورته بنیرې وکړې او له بارګاه الٰهي ورته سره د بنځې ئې د ابدي هلاکت خبر د مخبر صادق ﷺ په ذریعه راغې. هم د خیر البشر علیه الصلوٰة والسلام د صداقت، امانت، دیانت او په هر شان د وچتو اخلاقو وجه وه چې سره د منکرینو د هر قسم مخالفت چې کوم وخت قرآن اعلان کوي د حضور ﷺ د شخصیت په باره کښې دعوې کوي چې "مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ () وَ اِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ () وَ اِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ () (قلم ۶۸: ۲ ـ ۴) نو سره د دې چې حضور ﷺ ئې مجنون، شاعر او کاهن خو بللو خو سره د مخالفت د طوفان هیڅا سره هم د معمولي نه

معمولي مواد او د کمزوري نه کمزورے شهادت هم نۀ وۀ چې د دې دعوې چې "تۀ د ډېرو عظیمو اخلاقو څښتن یې" د صداقت د چیلنج کولو جرأت ئې کړے وے او دغسې دعوىٰ کیدے هم صرف د دغسې مخالف مواد او شهادت د فقدان په صورت کښې شوه چې یو خوا نې ناقابل تردید حیثیت د حضور ﷺ د دعوې د صداقت دلیل دے او بل خوا چې حضور ﷺ ته د جنون او شاعرۍ او کاهنۍ وغیرها نسبت کیدو د هغو ټولو الزامونو رد هم کوي. نۀ خو د لیونو په اقوالو، اعمالو او افعالو کښې هغه عظمت او رفعت او نظم او ترتیب وي چې کوم د حضور ﷺ تعلیم او ارشاد او اسوۀ حسنه کښې وۀ او نۀ چرې د لیونو کردار او ګفتار د پاکیزګۍ او سپیڅلتیا هغه معیار ته رسیدے شي کوم چې د آنحضرت ﷺ په ذات قدسي صفات کښې څلاند وۀ او بیا قرآن چې د عرب شعراء فصحاء او بلغاء ئې له څوابه پاتې وو څنګه د یو مجنون کلام کیدے شو. (د پوره تفسیر او تفصیلي بحث دپاره وګورئ د مولانا شبیر احمد صاحب عثماني مرحوم فوائد) او بیا هرکله چې دغه سلیم العقل، صادق، امین، راست ګفتار او نیکوکار انسان وائي چې دا زما نه بلکې د الله تبارک و تعالیٰ کلام دے نو څنګه ورته شاعري او کاهني وئیل شي. هغه د خلق عظیم څښتن چې چرې ئې په انسان دروغ نۀ دي پورې کړي په خپل خالق او مالک، د کون و مکان په خالق او مالک، په خپل رب او معبود په رب العالمین او اله العالمین واحد او لا شریک څنګه دروغ پورې کولے شي او خپلو شعرونو او د پیریانو خبرونو او اطلاعاتو ته د خدائے تعالیٰ کلام وئیلے شي. ارشاد کیږي چې "اِنَّهٗ لَقَوۡلُ رَسُوۡلٍ کَرِیۡمٍ () وَ مَا هُوَ بِقَوۡلِ شَاعِرٍ ؕ قَلِیۡلًا مَّا تُؤۡمِنُوۡنَ () وَ لَا بِقَوۡلِ کَاهِنٍ ؕ قَلِیۡلًا مَّا تَذَکَّرُوۡنَ () یعنې یقیناً دا د خدائے د عزتمند استازي وینا ده او دا د شاعر وینا (هیڅ کله) نۀ ده خو تاسو ډیر لږ ایمان راوړئ او نۀ د کاهن (له پیریانو د خبرونو اخستونکي) وینا ده خو تاسو ډیر لږ نصیحت اخلئ."

او هم د حضرت خیر البشر ﷺ نه د مخالفینو د انکار د مجال نۀ لرلو په وجه قرآن حکیم اعلان کوي "قَدۡ نَعۡلَمُ اِنَّهٗ لَیَحۡزُنُکَ الَّذِیۡ یَقُوۡلُوۡنَ فَاِنَّهُمۡ لَا یُکَذِّبُوۡنَکَ وَ لٰکِنَّ الظّٰلِمِیۡنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ یَجۡحَدُوۡنَ" (انعام ۶ : ۳۳) یعنې "مونږ خبر یو چې هغه چې دوي ئې وائي تا زهیروي نو دوي تا نۀ دروغوي بلکې ظالمان د خدائے له آیتونو انکار کوي." مولانا شبیر احمد صاحب عثماني مرحوم د دغه آیت په تفسیر کښې لیکي چې "دا خلق چې دروغول کوي نو ستاسو نه څکه چې تاسو خو ئې په اتفاق صادق او امین ګڼلي ئې بلکې د خدائے له آیاتو او نشاناتو چې د پیغمبر علیه السلام د تصدیق او تبلیغ دپاره رالیږلے شوي دي د قصده د ظلم او عناد له رویه انکار کړي الخ."

د قرآن حکیم د بیان له اندازه ښکاریږي چې مکذبینو د خدائے کلام ته (معاذالله) شاعري او کاهني وئیل او د حضرت رسالت مآب ﷺ دعوې ته ئې چې دا د خدائے کلام او زۀ د هغۀ نبي او رسول یم د هغو مبارکو د جنون نتیجه وئیل (العیاذ بالله) "و یقولون ائنا لتارکوا الهتنا لشاعر مجنون" (الصٰفٰت ۳۷: ۳۶) یعنې "او وائي چې آیا مونږ خپل خدایان د یوۀ لیوني شاعر په وینا پرېږدو." او "فذکر فما انت بنعمت ربك بکاهن و لا مجنون" (طور ۵۲: ۲۹) یعنې "ته نصیحت کړه په تا د خدائے فضل دے نۀ خو کاهن او نۀ مجنون ئې." دلته چې د کوم قول تردید شوے دے هغه هم د رسول برحق ﷺ په حقله لکه د کفارو د وینا شاعر مجنون د کاهن مجنون تردید دے. لکه چې کفارو آنحضرت ﷺ ته د شاعر وئیلو په وخت ورته د جنون نسبت هم کولو نو هم دغسې ئې ورته د کهانت د نسبت سره د جنون نسبت کولو. گنې کۀ دلته ئې دغه گډون نۀ کولو نو د شاعرۍ د نسبت کولو په وخت ئې څۀ ضرورت وۀ. حقیقت دا دے چې د جناب رسالت مآب ﷺ سخت نه سخت مخالفو خو د نور هر څۀ لکه د شاعرۍ، کاهنۍ او جنون نسبت کولے شو خو الصادق او الامین ته ئې دروغژن نۀ شو وئیلے. کلام الٰهي ته ئې شاعري او کاهني وئیل خو د صاحب قرآن د نبوت او رسالت دعوې ته ئې د قصدي غلط بیانۍ، د دروغو نتیجه نۀ شوه وئیلے. کۀ مخالفینو د خاتم النبیین او سید المرسلین علیه الصلوٰة والسلام د نبوت او رسالت دعویٰ نۀ منله نو په حقیقت کښې واقعات د نظر د وړاندې دا د هغو مبارکو د صداقت نه بلکې د آیت الٰهي انکار وۀ. نو باید چې د آقائے نامدار په حقله د مطهرو بیبیانو رائ هم وڅیږو. چې کوم وخت به آنحضرت ﷺ باندې د خدائے د فرښتې او وحي د وړومبي ځل نزول له قبله د خدائے د لوے شان او جلال هیبت طاري او ورته د هغۀ منصب او کار د اهمیت او عظمت چې ورته بخښلے او سپارلے شوے وۀ احساس وۀ او له انکساره ئې فرمایۀ چې "انی خشیت علیٰ نفسی" یعنې زۀ په خپل ځان ویرېږم. آیا د دې اهم او عظیم مقصد، اهم او عظیم منصب بار به وچت او فرائض او وظائف به ئې ادا کړے شم نو ام المؤمنین حضرت خدیجه الکبریٰؓ ورته عرض کوي چې "په خدائے مې دې قسم وي خدائے به تاسو هیچرې نۀ ناکامه کوي، تاسو په خپلو مهربان، مسلمه دوست او د بې چاره ؤ چار گر یئ، د نیستمنو دپاره د روزگار لارې پیدا کوئ او د حق رسئ په وخت د سخت نه سخت مصیبت کښې هم امداد کونکي یئ." د ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقهؓ نه چا یو ځلې د حضور ﷺ د اخلاقو په حقله پوښتنه وکړه نو ورته ئې وفرمائیل چې د هغۀ مبارک ﷺ خلق خو قرآن وۀ. د قرآن د عظیم، حکیمانه او پاک سپیڅلي تعلیم مجسم تفسیر وۀ.

لکه چې د کور له عالمو د ډېر نږدې کېدون قريبي او دائمي تعلق له قبله د چا ښهٔ او بد پېټ نهٔ شي پاتې کېدے نو هم دغسې له دښمنه خصوصاً له يوهٔ هوښيار او ذريعو او وسيلو څښتن دښمنه هم د چا ښهٔ او بد، د هر قسم قوت او ضعف ډيره غير اغلبه ده چې پټ پاتې شي. ابوسفيان د حضرت سرور کائنات ﷺ نهٔ صرف ډېر قريبي خويښ او عزيز وهٔ بلکې د قريشو لوے رئيس هم وهٔ. د حضرت سرور کونين ﷺ سخت مخالف او دښمن او د بدر له جنګه پس د مکې تر فتحې پورې چې د مکې د کفارو او مسلمانانو څومره جنګ جګړې شوے وے په ټولو کښې او په هر قسم مخالفانه تحريکونو او سرګرمو کښې د کفارو مشر او له هر چا وړاندې وهٔ. دې يقيناً له هغو څوکسانو وهٔ چې د حضرت رسول اکرم ﷺ ژوند، شخصيت او کردار ورته له نور هر چا زيات ښکاره او څرګند وهٔ. خو چې کوم وخت دهٔ دپاره هم عين د مخالفت په زمانه کښې د سرور کائنات ﷺ په حقله د ګواهي کولو وخت راشي نو مجال او جرأت ئې نهٔ وې چې بې له ستائنې د غندنې يوه کلمه يو لفظ هم ووئيلے شي. د هجرت په شپږم کال کښې لوے لوے مشهورو بادشاهانو ته د اسلام دعوت د بيلو بيلو قاصدانو په لاس ليږلے شوے وهٔ. د هغه وخت د دنيا د ټولو نه لوے فرمان روا قيصر روم ته هم د اسلام راوړلو بلنه شوې وه. قيصر ته چې کوم وخت د حضرت رسول اکرم ﷺ قاصد د هغو مبارکو ګرامي نامه ورکړه نو هغه وخت هغه په فلسطين کښې وهٔ. قيصر هيراکلئيس (هرقل) دربار وکړ ابوسفيان ئې راوغوښت او چې د قيصر او ابوسفيان په مينځ کښې کومه ګفتګو په هغه موقع وشوه هغه دغه شان وه لکه چې د قيصر له وړومبي سواله او د ابوسفيان له خوابه هم ليدهٔ شي. ابوسفيان سره څنې نور عرب هم دربار ته راغوښتي شوي او ورسره تلي وو:

قيصر : په تاسو کښې څوک د نبوت د دې دعويدار خپل دے؟

ابوسفيان : زهٔ يم.

قيصر : دا دعويدار کوم قسم کورنۍ سره تعلق لرې؟

ابوسفيان : شريفې کورنۍ سره.

قيصر : آيا د هغهٔ په کورنۍ کښې بل چا هم چرې د نبوت دعوئ کړې ده؟

ابوسفيان: نه.

قيصر : آيا د هغهٔ په کورنۍ کښې څوک باچا تير شوے دے؟

ابو سفيان : نه

قيصر : هغه خلق چې د دهٔ دين ئې قبول کړے دے زورور دي کهٔ کمزوري. شته من دي کهٔ

خواران؟

ابوسفیان : خواران او کمزوري.

قیصر : منونکي ئې زیاتیږي کهٔ کمیږي؟

ابوسفیان : زیاتیږي.

قیصر : آیا تاته معلومه ده چې دهٔ چرې دروغ وئیلي دي؟

ابوسفیان : نه.

قیصر آیا هغهٔ چرې د معاهدو مخالفت کړے دے؟

ابوسفیان : تراوسه خو ئې نهٔ دے کړے خو ګورو به چې دغه نوې معاهده چې ئې مونږ سره کړې ده پابندي ئې کوي کهٔ نه؟

قیصر : ستاسو چرې جنګ هم شوے دے؟

ابوسفیان : هو.

قیصر : نتیجه ئې څهٔ وي؟

ابوسفیان : کله مونږ او کله هغهٔ ګټه کړې ده.

قیصر : هغه د څهٔ تلقین کوي؟

ابوسفیان : د یوهٔ خدائے عبادت کوئ څوک ئې شریک مهٔ ګرځوئ مونځ کوئ، لمنې پاکې لرئ رښتیا وایئ صله رحمي کوئ.

قیصر (عربو حاضرینو ته د ژباړني په ذریعه) "تاسو وایئ چې هغه شریف النسب دے او دا هم وایئ چې د هغهٔ په کورنۍ کښې چا وړومبے د نبوت دعوىٰ نهٔ ده کړے کهٔ چا کړے وے نو ما به وئیل چې هغه اوس د پیدائشي اثرانو لاندې دا دعوىٰ کوي. تاسو منئ چې د هغهٔ په خاندان کښې څوک بادشاه نهٔ دے تیر شوے کهٔ تیر شوے وے نو دلیل به مې وهٔ چې بادشاهي غواړي. تاسو منئ چې هغه هیچرې دروغ نهٔ وائي. هغه چې دروغ نهٔ وائي د خدائے خلاف څنګه دروغ وئیلے شي. تاسو ګواهي کوئ چې خواران ئې پیروان دي خوارانو همیشه له نورو وړومبے د پیغمبرانو پیروي کړې ده تاسو دا هم وایئ چې پیروان ئې زیاتیږي. رښتونے دین هم دغسې وي. تاسو وایئ چې هغه معاهدې نهٔ ماتوي. انبیاء هیچرې فریب نهٔ کوي. تاسو منئ چې هغه د مونځ، تقوىٰ او پاک دامنۍ تلقین کوي کهٔ دا هر څهٔ رښتیا وي نو زما یقین دے چې د هغهٔ بادشاهت به تر هغه ځایه چې زهٔ پرې ګرځم رسي. زما یقین وهٔ چې یو نبي راتلونکے دے خو دا خیال مې نهٔ وهٔ چې هغه به په عربو کښې مبعوث کیږي کهٔ زهٔ ورورسیدے او پښې مې ووینځلے.

بیا د حضور گرامي نامه ولوستل او وژباړل شوه. د قیصر په خبرو درباریان ډیر خفه شول. قیصر دربار خور کړو سیاسي او ملکي مصالح ئې د وړاندې راوړل او درباریان امیران وزیران وغیرهم ئې رضا کړل. (حافظ غلام سرور "محمد دې پرافټ ص ۳۶۹-۳۷۲) اوسیرت ابن هشام انګریزي ترجمه ص ۶۵۳-۶۵۵ اردو ترجمه جلد ۲ ص ۴۷۵-۴۷۷ کښې حکمرانانو طرف ته د قاصدانو لیږلو په حقله بیان ډیر مختصر دے لکه چې انګریزي مترجم په حاشیه کښې لیکي هغهٔ د ابن هشام د بیان تکمیل د طبقات ابن اسحق چې د سیرت ابن هشام اساس دے، نه کړے دے)

د حضرت سید البشر ﷺ د ذات قدسي صفات او مجمع برکات د صفات او کمالات په حقله د تیر شوي بشارت په لړ کښې د دې ډیر مختصر او جزوي بیان نه پس باید چې اوس د بشارت هغو خاصو حصو ته پام وګرځوؤ چې کومو ته مو نمبر وار اشاره کړې وه. نمبر په نمبر به ئې راواخلو او د آنحضرت ﷺ د پاک تعلیم او سپیځلي سیرت په رڼا کښې ئې وڅیړو.

(۱) صادق او عادل حاکم:

د حکم مفهوم ډیر وسیع دے یو خوا خو پکښې د ایمان او کفر، حق او باطل، راست او کږ، نیک او بد صحیح تصور ورکول او لارې متعینې کول او بنښل، د دین د اصول او فروع وضاحت کول، د بنده خپل رب خالق او مالک سره او نورو بندګانو سره د تعلق نوعیت او په صحیح طریقه د ساتلو ضرورت غرض چې ژوند دپاره د مکمل نظام او ضابطې تقرر او وضاحت پکښې شامل وي. نو بل خوا نتیجةً د وړاندینو انبیاؤ د تعلیم تصدیق د هغو اختلافاتو فیصله کول هم دي چې د خدائے تعالیٰ د تولو نه لوے او اخري پیغمبر د بعثت نه وړومبے د مختلفو ادیانو پیروانو په دین حق کښې پیدا کړي وو او د هغو الزاماتو او بهتانونو نه د خدائے تعالیٰ فرستادګان پاکول چې هم د هغوي ګمراه شوؤ پیروانو پرې لګولي وو. په عالم انسانیت د حضرت خیر البشر ﷺ د احسانونو ذکر به خومره چې ئې دغه نوټ متحمل کیدے شي ان شآء الله تعالیٰ وشي. دلته مونږ بې له جزیاتو او تفصیلاتو کښې د تلو په حیثیت د حاکم عادل او صادق د حضرت سرور کائنات ﷺ دعویٰ تعلیم او شخصیت څیړو: ارشادات باري دي:

"يٰبَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَ اَوْفُوْا بِعَهْدِيٓ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ وَ اِيَّايَ فَارْهَبُوْنَ () وَ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَ لَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍ بِهٖ وَ لَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا وَ اِيَّايَ فَاتَّقُوْنِ () وَ لَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَ تَكْتُمُوا الْحَقَّ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ () (سورة

بقره ۲: ۴۰ـ ۴۲)

ترجمه: یه بني اسرائیل زما هغه احسانونه یاد کړئ چې په تاسو مې کړي دي تاسو زما عهد
پوره کړئ زهٔ به ستاسو عهد پوره کړم او هم له ما ووېرېږئ. او ومنئ زما نازل کړے (کتاب
چې رښتینونکے دے د هغهٔ چې تاسو څخه دے او مهٔ کېږئ وړومبي انکار کونکي ئې او م
اخلئ زما د آیتونو په بدل بیعه لږه (په مقابله د هغو) او ویرېږئ بس له ما. او رښتیا له دروغ
مهٔ ګډوئ او حق مهٔ پټوئ حال دا چې تاسو خبر یئ.

"كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ وَ مُنْذِرِيْنَ وَ اَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ
لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ وَ مَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَ تْهُ
الْبَيِّنٰتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ
يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ () (البقره ۲: ۲۱۳)

ترجمه: وګړے (یو وخت) یو امت (په یوه طریقه) وهٔ بیا الله پیغمبران ولیږل زیري ورکونکي
او ویرونکي او هغوي سره ئې په حقه کتابونه هم نازل کړل چې د خلقو تر مینځه د اختلافات
فیصله وکړي او په دیو (کتابونو) کښې بل چا اختلاف ونهٔ کړو خو هم هغو له باهمي ضد
چې کتاب ورکړے شوے وهٔ پس له هغه چې ورله ښکاره دلیلونه راغلي وو. نو الله د هغو (خو
چې ایمان ئې راوړو حق لوري ته هدایت وکړ چې (خلقو) ئې په باب اختلاف کولو، او الله چې
چا لره غواړي ورته سمه لار ښیي.

مولانا شبیر احمد عثماني مرحوم د دغه آیت په تفسیر کښې لیکي:

"د حضرت آدمؑ له وخته راهسې تر یوهٔ وخته هم یو رښتینے دین وهٔ پسته خلقو په دې
کښې اختلاف ګډ کړ نو خدائے تعالیٰ پیغمبران راولیږل. چا به چې مؤمنانو او طاعت کونک
ته د ثواب زیرے ورکولو او کافران او ګناه ګاران به ئې له عذابه ویرول. او هغوي سره ئې
رښتونے کتاب هم راولیږلو چې د خلقو اختلاف او جګړه لرې شي او رښتینے دین د هغوي ا
اختلافاتو محفوظ او قائم پاتې شي او د خدائے په احکامو کښې هم هغه خلقو اختلاف ګډ ک
چې هغه کتاب ورکړل شوے وهٔ. لکه چې یهود و نصاریٰ په توریت او انجیل کښې اختلاف ا
تحریف کولو او دغه جګړه به ئې له ناپوهي نهٔ کوله بلکې سره د ښې پوهې محض د دنیا ل
مینې او ضد او حسده به ئې داسې کول. نو الله تعالیٰ په خپل فضل ایماندارو ته خو د حق
طریقې هدایت وکړو او د ګمراهانو له اختلافاتو ئې وژغورل لکه چې د حضور ﷺ امت ت
ئې په هره عقیده او عمل کښې د حق د امر تعلیم وفرمایهٔ او د یهود او نصاریٰ له اختلاف ا
افراط او تفریطه ئې اماني وساتل. فائده. له دغه آیته دوه خبرې معلومې شوے یوه خو دا چې

الله تعالىٰ چې كتابونه او انبيا ګن راوليږل نو دې دپاره له چې هرې ډلې ته ئې بېله طريقه ښئيلے وے بـلـکـې د ټـولـو دپـاره الله تـعـالىٰ په اصل كښې هم يوه لاره مقرره كړه چې له هغې لارې واوړيـدل نو الله نبي راوليږلو او كتاب ئې ورې نازل كړو. چې هغۀ سره دې سم يون كا. چې له هـغـه پـسـه بيا واوښتيـدل نو بل نبي او كتاب الله هم د هغې يوې لارې د قائمولو دپاره راوليږۀ. د دې مثـال داسـې دے لـكـه چې روغ صورت يو دے او رنځونه بې شميره. چې يو مرض راولاړ شـو نـو د هـغـۀ مـوافـق د دارو او پـرهـيـز حكم ئې وفرمايۀ چې بل مرض رادوځار شو نو د هغۀ مـوافـق د دارو او پـرهـيـز حـكـم ئـې وفـرمايۀ. او اوس په اخر كښې داسې قاعده او طريقه ئې وفرمائيله چې له ټولو رنځونو وژغورې او د ټولو په بدل كښې كافي وي هغه طريقه اسلام ده چې ورسـره پـيـغـمبر آخر الزمانﷺ او قرآن شريف راوليږل شول. بله خبره دا معلومه شوه چې سـنـت الله هم دغه شان جاري دے چې بدو خلقو تل هر لبي سره مخالفت او په كتاب الله كښې اختلاف خوښ كړ او په دې كښې ئې مبنود وكړ نو اوس هم مؤمنانو لره پكار دي چې د كفارو بدسلوكى او فساد له قبله زړۀ تنګ نۀ كړي."

" اَلَمْ تَـرَ اِلَـى الَّـذِيْـنَ اُوْتُـوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَـرِيْـقٌ مِّـنْـهُـمْ وَ هُـمْ مُّعْرِضُوْنَ () ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ وَّ غَرَّهُمْ فِيْ دِيْنِهِمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ () (آل عمران ۳: ۲۳ ـ ۲۴)

ترجمه: آيـا تا هغه خلق نۀ دي ليدلي چې ورلره د كتاب يوه برخه وركړې شوې وه د خدائے كتـاب طـرف تـه بـلـل شي چې د دوي تر مينځه فيصله وكړي نو يوه ډله ئې جاروځي بې رخي كـونـكـے. دا دې دپـاره چې وائـي چې (د دوزخ) اور به نۀ راپورې كيږي خو د شمار يو څو ورځې. او د دين په باره كښې د دوي ځپلو جوړو كړو خبرو دوي غلولي دي.

"اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا وَ اِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا خَلَا فِيْهَا نَذِيْرٌ " (فاطر ۳۵: ۲۴)

ترجمه: مونږ تۀ سره د ريښتيني دين ليږلے ئې زيرے وركونكے او ويرونكے او داسې قام نشته چې ويرونكے پكښې نۀ وي تير.

"وَ يَقُـوْلُ الَّـذِيْـنَ كَـفَـرُوْا لَـوْ لَآ اُنْـزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّ لِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ () (رعد ۱۳: ۷)

ترجمه: او هغه كسان چې كفر ئې وكړ وائي چې ولې په دۀ د دۀ د رب له طرفه نخښه نازله نۀ كړلے شوه. تۀ خو ويرونكے ئې او هر قام لره هدايت كونكے تير دے (هدايت كونكے ئې.)

وړومبـى تـرجـمـه د شيـخ الهـنـد مولانا محمود الحسن مرحوم او مولانا اشرف علي مـرحـوم د تـرجـمـو مـطـابـق ده او په لينډو كښې بنده ترجمه د قرآن پاک د دوؤ مسلمانانو.

محمد مار میډیوک پکتال (انګریز) مرحوم او د علامه عبدالله یوسف علي مرحوم او د یو انګریز عیسائي آربري د انګریزي ترجمې مطابق ده. د حضرت شاه رفیع الدین صاحب رحمة الله علیه ''سوائے اس کے نہیں کہ تو ڈرانے والا ہے اور واسطے ہر قوم کے ہدایت کرنے والا ہے'' د دواړو معنو متحمله ده. کۀ د دغه آیت په دوۀ کښې هره یوه معنیٰ واخستې شي لکه چې تاسو وړومبے ولوستل د سرور کائنات ﷺ بعثت، دعوت، او هدایت د زیري او خبرداري ورکول او ویرول د کافه ناس (د ټول وګړي) دپاره وو او دي. او الله پاک ورته د عالمینو دپاره رحمت وئیلي دي. او هم په شروع کښې لې ورته ښئیلي وو چې ستاسو عظیم الشان کار کوم خاص قام یا ملک پورې محدود نه بلکې ټول انسان ېې لارې شوے دے او اوس د هغۀ سمې لارې ته رابلل او راوړل د الله په فضل او کرم هم ستاسو په ذمه دي. او په حیثیت د خاتم النبیین به نۀ صرف په خپل عمر کښې بلکې تر ابد الاباده هم تاسو د انسان هادي، رهبر او نجات دهنده يئ بلکې دغه معنیٰ په ''کافة للناس بشیرا و نذیرا'' او ''رحمة للعلمین'' هر یوۀ کښې خان له هم ښکاره او څرګنده ده.

مولانا عثماني صاحب مرحوم د دې آیت په تفسیر کښې (چې د حضرت شیخ الهند مرحوم په ترجمه ئې لیکلے دے) وائي:

''یعنې د نخښو رانازلول ستا په وس کښې نۀ دي. دا خو د خدائے کار دے چې کومه نخښه د پیغمبر د تصدیق دپاره مناسبه ګڼي ښکاره کوي. ستا کار هم دومره دے چې د خیر خواهۍ خبره ور واوروے او د بدو له مهلکه انجامه ئې خبر کړے. اول هم هر قام لره هادیان (لارښودونکي) او نذیران (ویرونکي) راغلي دي په هغو کښې د هیچا دا دعويٰ نۀ ده تیره چې کومه نخښه مخالفان غواړي ضرور به ئې ورښکاروي. هو د خدائے لار ښودل د هغوي کار وۀ او هم هغه ستا دے البته هغوي خاص خاص قوم لره هادیان وو او تۀ د دنیا هر قام لره.''

نو اوس هر کله چې د هر قسم اخلاقي او روحاني امراضو مکمل او جامع قانون راغلو نو د صحت او رنځورتیا حکم او تشخیص او د علاج او دارو تجویز به هم د دۀ په معیار او مطابق به ئې کیږي. هر کله چې د الله جل شانه آخري او مکمله وحي د حق او باطل د جاج او بیلتون دپاره کافي او وافي برهان او میزان راغلو نو په باب ئې هم دغې وحي او صاحب ته به ئې چې د الله پاک د ټولو نه لوے او اخري پیغمبر دے رجوع کیږي. هم دغه وحي او هغه صاحب علیه الصلوٰة والسلام به په هر قسم اختلافاتو او نزاعاتو کښې حُکم او حَکم وي. او هم دغه نور او سراج منیر به د ضلال له کړو لارې د هدایت صراط مستقیم لورې ته هدایت کونکے وي. او هر کله چې د دغو مبارکو نه پس د وحي سلسله بنده او د هر قسم نبوت او

رسالت ختم شو نو د دنیا د هدایت او امامت کار ئې امت ته وسپارلے شو. دغه امت په ټولو امتونو ګواه، د هغوي نګهبان او دغه مبارک په خپل امت ګواه او نګهبان دي. لکه چې الله پاک ارشادات فرمائیلي دي:

"یٰاَیُّهَا النَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ الرَّسُوۡلُ بِالۡحَقِّ مِنۡ رَّبِّكُمۡ فَاٰمِنُوۡا خَیۡرًا لَّكُمۡ ؕ وَ اِنۡ تَكۡفُرُوۡا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلِیۡمًا حَكِیۡمًا () (النساء ۴: ۱۷۰)

ترجمه : اے (ګردو) خلقو حق دے تاسو لره دا پیغمبر ستاسو له ربه سره د حق راغلو نو ایمان پرې راوړئ. تاسو لره به ښه وي او که تاسو کفر وکړو نو تحقیق (تاسو لره به بد وي الله تعالیٰ بې نیازه دے) الله تعالیٰ لره دي هر څۀ چې په اسمانونو او زمکه کښې دي او الله تعالیٰ د پوره علم او کامل حکمت څښتن دے.

"یٰاَیُّهَا النَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمۡ بُرۡهَانٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَ اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَیۡكُمۡ نُوۡرًا مُّبِیۡنًا () (النساء ۴: ۱۷۴)

ترجمه : یه (ګردو) خلقو تحقیق تاسو لره ستاسو له ربه دلیل راغلو او مونږ تاسو طرف ته صفا رڼا نازله کړه.

"یٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلُنَا یُبَیِّنُ لَكُمۡ كَثِیۡرًا مِّمَّا كُنۡتُمۡ تُخۡفُوۡنَ مِنَ الۡكِتٰبِ وَ یَعۡفُوۡا عَنۡ كَثِیۡرٍ قَدۡ جَآءَكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ نُوۡرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِیۡنٌ () یَّهۡدِیۡ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضۡوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَ یُخۡرِجُهُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوۡرِ بِاِذۡنِهٖ وَ یَهۡدِیۡهِمۡ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسۡتَقِیۡمٍ () المائده ۵: ۱۵، ۱۶)

ترجمه: یه اهل کتاب تاسو لره زمونږ رسول راغلو له کتابه چې کومې خبرې تاسو پټوئ له هغو ډیرې درښکاروي او له ډیرو درګزر کوي. تحقیق تاسو لره له الله تعالي رڼا او واضح کتاب (قرآن مجید) راغلو الله تعالیٰ هغه چاته چې په رضا پسې ئې ځي د دۀ په ذریعه د سلامتۍ لارو طرف ته هدایت کوي او په خپل حکم له تیارو ئې رڼا ته راوباسي او سمې لارې ته ئې بوځي.

وَ كَذٰلِكَ جَعَلۡنٰكُمۡ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوۡنُوۡا شُهَدَآءَ عَلَی النَّاسِ وَ یَكُوۡنَ الرَّسُوۡلُ عَلَیۡكُمۡ شَهِیۡدًا () (البقره ۲: ۱۴۳)

ترجمه: او دغه شان مونږ تاسو په اعتدال قائم امت جوړ کړئ چې تاسو په خلقو ګواه اوسئ او رسول دې په تاسو ګواه وي.

"یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اِنَّاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا وَّ نَذِیۡرًا () وَّ دَاعِیًا اِلَی اللّٰهِ بِاِذۡنِهٖ وَ سِرَاجًا مُّنِیۡرًا () وَ بَشِّرِ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ بِاَنَّ لَهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ فَضۡلًا كَبِیۡرًا () (احزاب ۳۳: ۴۵، ۴۶)

ترجمه : اے نبي ﷺ مونږ تۀ ګواه، زیرے ورکونکے او ویرونکے لیږلے ئې او د الله تعالیٰ په حکم هغه طرف ته بلونکے او یو روښانه څراغ او مؤمنانو له زیرے ورکړه چې په هغوي د الله

تعالیٰ لوی فضل کیدونکے دے.

"وَلۡتَكُنۡ مِّنۡكُمۡ اُمَّةٌ يَّدۡعُوۡنَ اِلَى الۡخَيۡرِ وَ يَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ ؕ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ۝ وَ لَا تَكُوۡنُوۡا كَالَّذِيۡنَ تَفَرَّقُوۡا وَاخۡتَلَفُوۡا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ الۡبَيِّنٰتُ ؕ وَ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ۝ (آل عمران ۳: ۱۰۴ و ۱۰۵)

ترجمه: او بایـد چې له تاسو یوه (خاص) ډله (هم) وي چې د ښو تبلیغ او له بدو منع کونکے وي او هـم دغـه خـلـق دي کـامـیـابـیـدونـکـي. او د هـغـو خلقو په شان مۀ کیږئ چې بیلتون او اختـلاف ئـې وکـړو پـس لـه هـغې چې ورلره ښکاره احکام او هدایات راغلل او دغه خلقو لره لوی عذاب دے.

"كُنۡتُمۡ خَيۡرَ اُمَّةٍ اُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ تَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ وَ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ ؕ وَ لَوۡ اٰمَنَ اَهۡلُ الۡكِتٰبِ لَكَانَ خَيۡرًا لَّهُمۡ ؕ مِنۡهُمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ وَ اَكۡثَرُهُمُ الۡفٰسِقُوۡنَ ۝ (آل عمران ۳: ۱۱۰)

ترجمه: تـاسو هغه غوره امت یئ چې د (ګرد) وګړي دپاره ویستلے شوے دے (چې ورته) د ښـو تبـلیـغ کـوئ او لـه بدو ئې منع کوئ او په الله ایمان راوړئ او کۀ اهل کتاب ایمان راوړے وے نو ښه به وه ورلره، له هغو مؤمنان (هم) شته او ډیر پکښې فاسقان دي.

او لـکـه چـې په بخاري شریف کښې له ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقهؓ نه روایت دے جـنـاب رسـالـت مآب ﷺ چې ذات بابرکات ئې الله جل شانه د عالمینو دپاره هادي او د هـغـوي د اخـتـلافـاتـو د لـرې کولو دپاره حَکَم مقرر کړے او ورسره ئې قرآن په طور د برهان رالیږلے وۀ په بارګاه الٰهي کښې به ئې دعا کوله چې:

"الـلـهـم رب جبـریـل و میـکـائل و اسـرافیـل فاطر السمٰوٰت والارض عالم الغیب والشهادة انت تـحـکـم بین عبادك فیما کانوا فیه یختلفون اهدني لما اختلف فیه من الحق باذنك انك لتهدي من تشآء الی صراطٍ مستقیم"

ترجمه: اے زمـا الله د جـبرائیل، میکائیل او اسرافیل علیهم السلام ربه، د اسمانونو او زمکې پیدا کونکیه د پټ او ښکاره عالمه هم تۀ د خپلو بندګانو تر مینځه د هغه څۀ چې په باره کښې ئـې اختـلاف کوي فیصله کونکے ئې تۀ په خپل حکم زما هدایت وفرمایه د حق په باره کښې د اختلاف په حقله بیشکه تۀ هدایت کوے سمې لارې ته هغه چا لره چې ئې غواړے.

اوس بـه انـسـانـي مـعـامـلاتو، حدودو او معاشرتي او اجتماعي تعلقاتو کښې د عدل او انـصـاف د قـائـمـولـو پـه حقله د پیغمبر اسلام علیه التحیات والسلام تعلیمات او اسوۀ حسنه وخیرو. ارشادات باري:

"وَ اِذَا حَكَمۡتُمۡ بَيۡنَ النَّاسِ اَنۡ تَحۡكُمُوۡا بِالۡعَدۡلِ ؕ" الخ (والنساء ۴: ۵۸)

ترجمه: او هر کله چې د خلقو تر مینځه حکم کوئ نو د انصافه سره ئې کوئ. الخ.

"يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَ لَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَوِالْوَالِدَيْنِ وَ الْاَقْرَبِيْنَ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا وَ اِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا() (النساء ۴: ۱۳۵)

ترجمه: يه هغو كسانو چې ايمان مو راوړو په انصاف باندې كلک ولاړ اوسئ د الله تعالىٰ دپاره ګواهي وركونكي هډو كه ستاسو په خپل ځان وي يا په مور او پلار او په خپلوانو، خواه كه په امير وي كه په فقير، نو د الله تعالىٰ تعلق دواړو سره زيات دے نو د نفس غوښتنې پسې مه ځئ د عدل په باره كښې، او كه تاسو كږه وينا وكړه يا ډډه مو وكړه نو بيشكه الله ستاسو له ټولو كړو خبر دے.

"يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰٓى اَلَّا تَعْدِلُوْا اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ () (المائده ۵: ۸)

ترجمه: يه هغو كسانو چې ايمان مو راوړ خدائے دپاره ګواهي وركونكي او په انصاف قائم پاتې كيدونكي اوسئ. او د چا قام دښمني دې تاسو په دې ونه ګماري چې انصاف ونه كړئ انصاف كړئ چې هغه پرهيزګارى ته نزدې دے او له الله ووېرېږئ بيشكه الله خبر له تاسو د كړو.

"وَ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا وَ تَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَ التَّقْوٰى وَ لَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ () (المائده ۵: ۲)

ترجمه: هسې نه چې د چا قوم دښمني چې تاسو ئې په مسجد الحرام بند كړي يئ تاسو په دې پسې راولي چې له حده تير شئ او مرسته كړئ يو تر بله ښيګړې او نيكۍ لره او مه كړئ د يو بل مرسته ګناه او تيرې لره. او ووېرېږئ له الله تعالىٰ بيشكه الله تعالىٰ سخت سزا وركونكے دے.

"اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِيْتَآئِ ذِى الْقُرْبٰى وَ يَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ () (النحل ۱۶: ۹۰)

ترجمه: بيشكه الله حكم فرمائي د عدل او د احسان او اقرباؤ لره د وركړې او منع فرمائي له بې حيايي او بدو او سر كښۍ (او) نصيحت كړي درته چې نصيحت واخلئ.

په حقه وينا كښې د ربنتياؤ د ګواهي په وركولو او انصاف اوعدل كولو كښې د ځان او بل، خپل او پردي عن چې د مور او پلار هم، دوست او دښمن، امير او غريب او زورور او كمزوري هيڅ خيال نه شي ساتلے. هغو دښمنانو سره به هم زياتے نه شي كړے چا چې

مسلمانان له مکي معظمې په وتو مجبوره او په کعبې شریفې بند کړي وو بلکې انصاف به ورسره کړے شي. د جناب رسالت مآب ﷺ ارشاد دے چې "ساعة عدل خیر من عبادة الف سنة" یعنې د یوې ساعت انصاف د زرو کالو له عبادته غوره دے.

د مذهب په تاریخ کښې د آنجناب حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ ذات ستوده صفات واحد شخصیت دے چې په صحیحو معنو کښې او په پوره شان تاریخي شخصیت ګڼلے او بلل کیدے شي. او چې څۀ ئې تعلیم فرمائیلي دي ورسره ئې بهترینه او مکمله عملي نمونه هم پیش کړې ده او د دې ثبوت د تاریخ په پاڼو کښې محفوظ دے. د نظر د وړاندې موضوع پۀ حقله د حضور پرنور ﷺ د اسوۀ حسنه ګڼو واقعاتو په یو څو اکتفا کوؤ. یو ځل د بنو مخزوم د معززې کورنۍ یوې ښځې چې فاطمه نومیده غلا کړې وه د قریشو عزت نظر د وړاندې خلقو غوښتل چې دغه ښځه له سزا بچ او معامله رفع دفع شي. حضرت اسامه بن زیدؓ چې آنحضرت ﷺ پرې ډیر مهربان وو ته سفارش دپاره وونیل شول هغوي چې بارګاه رسالت کښې د خلقو د خواهش مطابق درخواست وکړو نو آنحضرت ﷺ په دې خبره ډیر زیات خفګان ښکاره کړو او وې فرمائیل چې بني اسرائیل هم دې دپاره تباه شوي وو چې په خوارانو غریبانو خو به ئې حد جاري کولو او غټانو او امیرانو ته به ئې هیڅ نۀ وئیل.. کۀ زما لور فاطمه هم دا کار کړے وے نو د هغې به مې هم دغه شان فیصله کوله چې د دې په حقله به ئې کوم (رحمة للعٰلمین جلد ۲ ص ۳۵۰ او سیرت النبي جلد ۲ ص ۳۰۵).

چې د خیبر یهودو سره روغه وشوه او زمکه ئې په مجاهدینو وویشلے شوه نو عبدالله بن سهل د کجورو د برخې اخستو دپاره لاړ وو د هغوئ د تره زوے محیصهؓ هم ورسره و عبداللهؓ په کوڅه کښې تیریدۀ چې چا ووژل او لاش ئې په یوه کنده کښې وغورزاوۀ. محیصه په بارګاه رسالت کښې استغاثه وکړه. رسول الله ﷺ ورته وفرمائیل چې تۀ به قسم وخوره چې ستا د تره زوے یهودو وژلے دے. محیصهؓ عرض وکړو چې په خپلو سترګو مې نۀ دے لیدلي. آنحضرت ﷺ وفرمائیل نو بیا یهودو له دې قسم ورکړے شي؟ محیصهؓ عرض وکړو چې د یهودو په قسم څۀ باور هغوي خو به سل ځله د دروغو قسم وخوري. سره د دې چې خیبر کښې بې له یهودو بل قام نۀ وۀ اباد او دا یقیني وه چې هم یهودو عبداللهؓ بن سهل وژلي و خو بیا هم هر کله چې عیني شهادت نۀ وۀ آنحضرت ﷺ یهودو ته هیڅ ونۀ وئیل او سل اوښان ئې له بیت الماله د خون بها په طور مدعي ته ورکړل. (سیرت النبي جلد ۲ ص ۳۰۶)

یو ځل یوه قافله د مدینې منورې په خوا کښې ایساره وه د قافلې خلق ناست وو چې رسول الله ﷺ سپینې جامې اغوستے هغه خوا تشریف وروړ سلام ئې پرې واچوۀ هغو خلقو

چې لا ئې حضور ﷺ نه پېژندل هم د سلام ځواب ورکړ. ديو خلقو سره يو سور اوښ وه آنحضرت ﷺ ئې بيعه وپوښتله د قافلې عالمو ورته څه کجورې يادې کړې آنحضرت ﷺ د اوښ مهار ونيو ښار لورې ته روان شول او لاړل. نو د قافلې عالمو ووې چې قيمت پاتې شو او مونږ ئې نه پېژنو يوې بې بې چې د قافلې سره وه وونيل چې مونږ د هيڅا مخ دغسې روښانه لکه د څوارلسمې د سپوږمی نه دې ليدلې (يعني داسې سړې به هيڅرې چل ول ونه کړي) راوي طارق محاربي چې په دغه قافله کښې وه وائي چې شپه تيره شوه نو يو سړې راغې او وې ونيل چې رسول الله ﷺ تاسو لره ډوډی او کجورې راليږلي دي. بله ورځ سحر مونږ مدينې منورې ته راغلو آنحضرت ﷺ په جماعت کښې خطبه ورکوله يوه انصارې چې مونږ ولېدو نو پاسېد او عرض ئې وکړ چې يا رسول الله ﷺ دا خلق د بنو ثعلبه له قبيلې دي او د دوی مشر زمونږ د کورنې يو سړې وژلې وه د هغه په بدل کښې له دوی د يوه سړي د وژلو حکم وفرمايئ. آنحضرت ﷺ وفرمائيل چې د پلار بدل له زويه نه شي اخستل کيدې. (ايضاً ص ۳۰۶، ۳۰۷)

په يوه صحابي ابوحدرد اسلميؓ د يوه يهود قرض وه او هغه صحابي سره بې له اغوستو جامو نور هيڅ نه وو دا د هغه زمانې خبره ده چې حضرت رسالت مآب ﷺ د خيبر د مهم اراده فرمائيله ابوحدردؓ له يهودي څخو مهلت وغوښت خو هغه رضا نه شو او ابوحدردؓ ئې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې پيش کړو. آنحضرت ﷺ ورته وفرمائيل چې قرض ادا کړه. ابوحدردﷺ عذر وکړو آنحضرت ﷺ ورته بيا د ادائيگی امر وفرمايه. ابوحدردؓ بيا عذر وکړو او په عرض ئې ورسول چې د خيبر مهم کيدونکې دې گوندې له هغه ځايه په واپسی کښې څه تر لاسه راشي نو دهٔ لره به ورکړم. آنحضرت ﷺ ورته بيا حکم وکړو او ورته ئې وفرمائيل چې سمدستي ورته ادائيگي وکړه. اخر ابوحدردؓ خپل تهبند هغه يهودي ته د قرض په بدل ورکړو او له دستاره ئې تهبند ساز کړو. (ايضاً ص ۳۰۷)

د دربار رسالت د عدل او انصاف اثر وه چې مسلمانانو خو به خود يهودو به هم چې د مسلمانانو زښت بد دښمنان وو خپلې مقدمې د جناب رسالت مآب ﷺ بارگاه عدالت ته راوړې او د هغوي د شريعت سره سمې به فيصله کيدې. په قرآن شريف کښې هم د دغې خبرې په صراحت ذکر شوې دې. له اسلامه اگاهو د بنو نضير او قريظه د يهودو تر مينځه د عزت او شرافت عجيبه حد قائم وه. که چا قريظي به څوک نضيري ومړوه نو په بدل کښې به ومړوه شو خو که چا نضيري به څوک قريظي ومړوه نو د اوښ د سل باره چوارو په بدل کښې به خلاص شو چې په اسلامي دور کښې دغسې واقعه پيښه شوه او بنو قريظه د جناب

رسالت مآب ﷺ بارګاه عدالت کښې مقدمه پیش کړه نو هغو مبارکو د توریت له حکمه سم النفس بالنفس د دواړو قبیلو تر مینځه برابر قصاص جاري کړو. (ایضاً ص ۳۰۸)

د عدل او انصاف له تولو نازک اړخ دا دے چې د خپلو خپلوانو او ځان په باره کښې هم له حقه مخ ونهٔ جاړ ایستے شي. د بدر په غزا کښې د کفارو نورو قیدیانو سره د جناب رسالت مآب ﷺ عم بزرګوار حضرت عباسؓ (چې لا په اسلام نهٔ وهٔ مُشرف) ګرفتار راوستل شول. قیدیان د فدیې او رقم په بدل کښې پریښودل شول ځنو انصاروؓ د حضرت عباسؓ د آنحضرت ﷺ سره نزدې خپلوي نظر د وړاندې په خدمت بابرکت کښې ئې عرض وکړو چې اجازت وکړئ چې مونږ د خپل خوریي (حضرت عباسؓ) د فدیې رقم معاف کړو وې فرمائیل نه یو درهم هم مهٔ معافوئ. (ایضاً ص ۳۳۳) چې د حجة الوداع په خطبه کښې ئې د جهالت د تېر لږ امورو د منسوخولو او ختمولو اعلان وفرمائیلو نو د وینې د پور او د سود په حقله ئې داسې ارشاد وکړو "و ان اول دم اضع من دمائنا دم ابن ربیعة بن الحارث کان مسترضعاً في بنی اسد فقتله هذیل و ربا الجاهلیة موضوعة و اول ربا اضع ربانا ربا عباس بن عبدالمطلب فانه موضوع کله الخ" یعني د جاهلیت د وژلو تول پوررونه ختم دي او وړومبے زهٔ د خپل خاندان د ابن ربیعه بن حارث وینه چې بني اسد کښې ئې تے رودلو او هذیل وژلے وهٔ بخښم. د جاهلیت سود ورک دے وړومبے زهٔ د خپل خاندان د عباسؓ بن عبدالمطلب سود ورکوم. تول ورک دے .(اسلام خو سود حرام کړے دے خو جناب رسالت مآب ﷺ په تولو قرضونو کهٔ ورکونکي د کفر په حالت کښې هم ورکړے وې سود حرام کړو.) [سیرت النبي جلد ۲ ص ۱۵۶، ۱۵۷ او رحمة للعٰلمین جلد ۱ ص ۲۷۱، ۲۷۲)

یو ځل جناب رسالت مآب ﷺ مال ویشلو خواږشا ډیر خلق راتول وو یو سړے مخې ته راغے او په هغو مبارکو ئې ځان راوغورزوهٔ هغوي ﷺ سره یو نرے لرګے وهٔ په هغه ئې جارایستو خو اتفاقاً د لرګي سوکه ئې په خلهٔ ولګیده او خخو وګریدهٔ هغوي مبارکو ورته وفرمائیل چې له ما خپل بدل واخله هغه (رضي الله تعالیٰ عنه) عرض وکړو چې ما وبخښلې. (ایضاً ص ۳۰۸)

په هغه مرض کښې چې په وصال ئې ختم شو د دوؤ جهانو سردار ﷺ په عامه مجمع کښې اعلان وفرمائیلو چې کهٔ زما په ذمه د چا قرض وي کهٔ له ما د چا ځان و مال یا آبرو ته نقصان رسیدلے وي نو زما ځان و مال او آبرو حاضر دي. له ما دې هم دغه جهان کښې بدل واخلي. مجمع دم په خود شوه صرف یوهٔ سړي د څو درهمو دعویٰ وکړه او ورکړل شول. (ایضاً ص ۳۰۸)

د حضرت سرور کائنات ﷺ په پلهٔ مبارک روان خلفائے راشدین رضوان الله علیهم اجـمعین د خپل هادي برحق نه پس د عدل او انصاف میزان په هر حالت کښې داسې روغ او قـائـم وسـاتـلـو چـې د عهـد رسـالت نه پس د خلافت راشده زمانه د عدل او انصاف د انتهائي عـروج زمـانـه وه او د دغـو پـاکـو زمانو نه پس د اسلامي تاریخ د امارت او بادشاهت په زمانو کښې هـم د عـدل او انصاف داسې روښانه مثالونه شته چې د نورو قومونو تاریخ ئې د مخې له پیـش کـولـو عـاجز او قاصر دے. مبالغه به نهٔ وي کهٔ ووئیل شي چې زمونږ د تاریخ په تاریک دور کښـې هـم عـدل او انـصـاف او مسـاوات داسـې روښانه ستوري ځلیدلي دي چې د نورو قومونو د تاریخ د روښانه زمانو رڼائي هم د دغو ستورو د رڼا په مخکښې تته شي.

لـکـه چې تاسو ولیدل د نظر د وړاندې بشارت کښې د موعود وړومبے صفت دا بیان شـوے دے چـې هـغه به صادق او عادل حاکم وي. په دغه صفت خو مونږ بره څهٔ قدرې بحث وکـړو. دویـم صـفـت ئـې دا بیـان شـوے دے چـې د مـسـکینانو محتاجانو د بیوسه او بې یار و مـددګـار فـریاد کونکي به ژغورونکے او پرې به زړهٔ سواندې وي او د هغوي وینه به ئې په نزد قیـمـتـي وي. دغـه خبرې د عدل او انصاف یو محکم، ټینګ او بې رویه رعایته نظام سره تړلے ګنډلے دي. په جابرانه او ظالمانه نظام کښې زورور تل په کمزورو او بیوسو ناتار کوي او هغه خـواران تـل د یـار او مـددګـار لـټـون کښې او د امن او سلامتیا په ارمان وي. ځکه چې د هغو خـوارو ځـانـونـه، مـحـنـت، مشقت، مزدوري، ګټه او مالونه عن چې عزت او ناموس هر څهٔ د زورورو واکـمـنـو وي. چـې کـوم وخـت د استبـداد، جبـر او ظلم تور دیو د عدل او انصاف په روښـانه تیره توره وواههٔ شي نو د ناتار کروړه ئې هم پخپله تار په تار شي او وهلو شوؤ ته ئې د امن او سلامتیا او روغ او توانا ژوند موقعې میسرې شي. خو یو څو پریوتې طبقې به خاص طور سـره واخـلـو او وبـه ګـورو چې د هغو دپاره د موعود ﷺ ذات ستوده صفات څهٔ رنګه او تر کـومـه حـده د بـرکـاتـو او نـجـات مرکز او مصدر وهٔ او دے. په ژونده سریو کښې عموماً او وګـړي انـسـانـي عـالـم کښـې خـصـوصـاً د دوؤ جـنـسـو د یـو بل او د قدرت د مقاصدو دپاره ضـرورت او اهـمـیـت څـهٔ ویـنـا تـه اړ نـهٔ دے خو په بنیادمو کښې د اسلامي پیغمبر د بعثت نه وړومبے د ښـځـیـنـه حیثیت او حالت د انسان په تاریخ کښې ورله د ویاړ او سر هسکی باعث خو هلو کیدے نهٔ شي البته د شرم او سر ټیټي موجب ئې دے. هر کله چې په معاشره کښې ئې هیـڅ قـانوني حقوق نهٔ درلهٔ نو عزت او احترام به ئې څهٔ وهٔ. د ښځې کهٔ څهٔ افادیت وهٔ نو هم دا چـې سـرې لـره اولاد خصوصاً نارینه بچي راوړي او د هغهٔ د جنسي خواهشاتو خواه کهٔ په هر حیثیت وي تسـکین وکړي. د زړې زمانې په ډیرو متمدنو او مهذبو ملکونو کښې هم د ښځې

خواري بد حال وۀ. په یونان کښې عموماً ښځه د یوې لاندې درجې مخلوق ګڼلے شو. سپارټا کښې به ئې (چې د یونان یوه علاقه ده) هغه ښځه ووژله چې د قام دپاره به ترې سپاهي د زیږیدو طمع نۀ وه. او چې د یوې ښځې بچے به وشو نو د سړي نه د بچي راوړ دپاره به له ښځتنه پور کړل شوه. په روم او یونان دواړو کښې به ښځه د خپل ښځتن د جابرا واک لاندې وه، په معاشره کښې ئې هیڅ حقوق نۀ درلۀ. او خاوند ئې د ځان هم پوره واکم وۀ. یهودو کښې به چې یو ورور ومړ نو په ځائے د دې چې کونډې سره چا پردي وادۀ کړ وے لیور به ورسره خلوت وکړ او ښځه به ئې کړه او وړومبے نارینه زوولے به د مړ ورور نامه یادیدو. (ایضاً او استثنا باب ۲۵: ۵ ـ ۱۰) د یهودو او نصاریٰ ؤ په نزد د آدم د ګناه سبب هم ښځه ده نو له دې قبله هغه د شیطان د راتګ دروازه، شجر ممنوعه لورې ته بوتلونکې خدائے د قانون ماتونکې او د خدائے د عکس سړي ورانونکې ګڼل کیدے شوه. د هندوانو قانون له رویه تقدیر، طوفان، مرګ، دوزخ، وښ او وېښناک ماران دومره بد نۀ دي لکه ښځ او دا په هیڅ حال کښې هڅو د خپل واک او اختیار د ژوند تیرولو حق نۀ لري. د ویدک دهرم یا د هندوانو د دین له رویه چې د وادۀ کوم اتۀ قانوني اقسام ګڼلي شوي دي په هغو کښ دوه (اووم او اتم) راکهشش او اوپیشاج دي. یو (اووم) په زور، شوکه، یا چل فریب جینۍ ت لاسه کول دي او بل (اتم) د ودې یا د شرابو وغیره په نشه کښې ډوبې یا لیونۍ جینۍ سره زور سملاستل دي. په لرغوني هندوستان کښې د یوۀ کهالۀ یا د څو ورونو د ګډو ښځو روا عام وۀ. د شنډ خاوند ارتینه د سخر یا ښځتن په اجازت له لیوره یا له غیره سړي هم اولا راوړے شي. د هندوانو په مذهب او قانون کښې دا مشهور رسم او نیوګ بلل شي. حضرت رسول الثقلین ﷺ د بعثت نه وړاندې د نر او ښځې د کوروالي تړون د اخلاقو ا روحانیت د ترقۍ دپاره اړکه ګڼلے شو. په هندوستان کښې د بودائیت، جینیت، ویدانت جوګ او سادهوتوب هم د دغه نظریې ملګري او منونکي وو او په نصاریٰ ؤ کښې هم ښځې ځان ژغورل د روحاني کمال ذریعه کیدے شوه. (د مولانا ظفیر الدین صاحب اسلام نظام عفت و عصمت ص ۲۴ ـ ۲۸) د متعددو مختلفو اسنادو په حوالو)

د اسلام نه اګاهو په عربو کښې د ښځې د حیثیت په باره کښې د اردو مشهور ادیب او نقاد مالک رام ایم اے په خپل کتاب "عورت او اسلامي تعلیم" یعنې عورته او اسلام تعلیم کښې لیکي: "د اسلام نه وړومبے په عربستان کښې د ښځې صحیح مقام تاکل ډې ګران دي. ځکه چې دلته مونږ له عجیبه قسم متضادو واقعاتو مخامخیږو. یوۀ اړخ ته خو ل ایام العرب ښکاریږي چې ښځې په کورنۍ او قبیله کښې کافي اثر درلۀ، د اولسونو تر مینځ

جګړو کښې د دې رائ او مشورې ته به کافي اهميت ورکړل کيدے شو او د خيمې دننه خو دا د ښځو حاکمانه اقتدار ميرمن وه او بل حالت دا وۀ چې د لور زيږيدل به اکثر د ننګ او شرم سبب ګڼلے شو." (ص ۱) بيا په مخ ليکي "په جاهليت کښې د عربو په بيلو بيلو اولسونو کښې به هره ورځ جنګونه کيدل نو لۀ دې قبله به د دښمنانو د مقابلې دپاره دوې ته د زياتو نه د زياتو سړو ضرورت وۀ او قدرتي نتيجه ئې دا وه چې سړو ته په ښځو ترجيح ورکړل شي او هم له دې قبله ئې ښځو ته نۀ په وراثت کښې او نۀ په اولجه کښې څۀ برخه ورکوله ځکه چې هغه په اس سوره دښمن سره نۀ شوه جنګيدلے. صرف دا نه بلکې د جنګيالو به دا عام خواهش وۀ چې د مخالفې ډلې ښځې په بند کړي چې د هغو په بدل کښې د فديې رقم بود کړي چې عام طور سره به د اوښانو يا ګډو بزو په شکل کښې ادا کيدو. کۀ وارثانو به ئې د فديې رقم نۀ شو ادا کولے نو دغه ښځې به د نيونکو په کورونو کښې د وينځو په حيث وسيدلے نو په دواړه حالـه کښې به د ښځو متعلقان په تاوان کښې وو کۀ زر فديه به ئې ورکاوۀ نو د مال نقصان او کۀ به ئې نۀ ورکاوۀ نو د عزت او ناموس زيان به ئې کيدو.

بيا دا خيال به ئې هم وۀ چې کۀ هغه جينۍ(لور) دا بحث فاضل مؤلف د عربو د جينۍ په پيدائش د خفګان او د هغوي په معاشره کښې د هغې د هيڅ درجې نۀ لرلو په ضمن کښې چيړلے دے) ژوندۍ پاتې شوه نو بل چا ته به ئې په نکاح کښې ورکوي او دا هم د دوي په خيال کښې ډيره د شرم خبره وه. هم دغه شان د مينځنۍ زمانې د هندوستان د راجپوتو په زړۀ کښې هم دې غلط خيال ځائے نيولے وۀ چې چا له د لور ورکولو او سخر بلل کيدو نه مرۀ کيدل بهتر دي. سخر بلل کيدۀ ئې له ښکنځا کم نۀ ګڼل. هغوي له دې موهومې بې عزتۍ نه د بچ کيدو دا علاج راويستے وۀ چې جينۍ به ئې د پيدا کيدو سره ووژله. ايام جاهليت کښې شتۀ منو او مشرانو هم سخر بلل کيدل بې عزتي ګڼله.

د دغو ټولو خبرو ګډون د جاهليت په عربو کښې دا خيال پيدا کړے وۀ چې د جينۍ په ژوندۍ پريښودو کښې سراسر تاوان دے او بې له تاوانه پکښې هيڅ نشته. د دې په رزلو ساتلو او ژغورلو به هم هغه هومره خرڅ کيږي څومره چې يوۀ هلک لره پکار دے خو د دښمن د مقابلې دپاره د هلک برابرے نۀ شي کولے او کۀ چرې به جنګ کښې بندي شوه نو دا تاوان پرې لا دپاسه نو آسان علاج ئې دوې دا راوکښو چې څنګه به وزيږيده وبه ئې مړوله او عام طور به ئې کنده وکنسته او ژوندۍ به ئې پکښې ښخه کړه. قرآن کريم هم په دې حقله وائي:

"وَ اِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمۡ بِالۡاُنۡثٰی ظَلَّ وَجۡهُهٗ مُسۡوَدًّا وَّ هُوَ کَظِیۡمٌ () یَتَوَارٰی مِنَ الۡقَوۡمِ مِنۡ سُوۡٓءِ مَا بُشِّرَ

به ط اَيُمْسِكُهُ عَلىٰ هُوْنٍ اَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَاب ط اَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ () (النحل ١٦ : ٥٨ ، ٥٩)
ترجمه : او چې کله دوي کښې چا يوۀ وته د جينۍ (د زيږيدو) خبر ورکړل شي نو د مخ رنګ ئې تور شي او له قهره ډک شي دا ډير بد خبر ګڼي او له قبله ئې د خلقو په مخکښې له راتللو شرميږي (او وائي چې) آيا د بې عزتۍ دپاره ئې ژوندۍ پريږدم کۀ په زمکه کښې ئې ښخه کړم. پام کوئ چې دا فيصله چې دوي کوي ډيره بده ده.

نو غرض دا چې هغوي د جينۍ د بل چا په نکاح کښې ورکول د بې عزتۍ خبره ګڼله او له دې شرمه د بچ کيدو دپاره هغوي د لوڼو په کندو کښې د ژوندۍ ښخولو رسم راوويست او هم له دې قبله په قرآن کښې بل ځائې ارشاد دے:
"وَ اِذَا الْمَوْءُ دَةُ سُئِلَتْ() بِاَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ" (سورة التکوير ٨١: ٨،٩)
ترجمه : او چې کوم وخت به ژوندۍ ښخه کړلے شوے پوښتلے شي تۀ په کوم ګناه وژلے شوے وے.

"د جاهليت له رواياتو معلوميږي چې دغه بد رسم وړومبے د بني اسد له امراؤ شروع شوے وۀ. او د هغو پيروي د بني ربيعه، کنده، او بني تميم مشرانو هم وکړه خو له بده مرغه تر امراؤ محدود پاتې نۀ شو او د دوي ليدونکو کتونکو د لاندې طبقو خلقو کښې هم خور شو (ص ٣٠٢)

علاوه له دغو خبرو چې تاسو ولوستے کۀ د ايام جاهليت په عربو کښې به څوک ومړ نو لکه د هغۀ د نور مال به ئې ښځه يا ښځې هم په ورثه کښې وارثانو ته رسيدے. کۀ خوښه به ئې وه ښځې به ئې کړے او د هغوي په مال به ئې قبضه وکړه ګنه بل چا ته به ئې په نکاح ورکړے او مهر به ئې پخپله واخست. او کۀ نه هم دغسې به ئې کور کښې بنديوانې ساتلے او چې به ومړے په مال کۀ به ئې څۀ پاتې وۀ دغو سرو په ځائې د هغو وارثانو قبضه وکړه. کۀ چرې د چا به خپلې ښځې سره ناچاقي راغله نو د هغې خوارې نور عمر به په دار وۀ ولې چې د پريښودو او ورسره د زوجيت د تعلق لرلو اختيار کلهم هم د سړي وۀ نو کۀ به دۀ غوښتل نو بې د څۀ قسم د زوجيت د تعلق به ئې هم دغسې زوړنده ايساره کړې وه.

ښاغلے مالک رام چې د کومو ښځو په معاشره کښې د ښۀ حيثيت، په خاندان کښې د اقتدار او قبيلوي سياست کښې د عمل دخل ذکر کوي نو چې موږ د عربو په عامه معاشره کښې د ښځو بد او زبون حالت وخيرو نو وئيلے شو چې دا د کومې خاصې طبقې خاص خاص ښځې وے په جاهلې عربو کښې د خورې ورې فحاشۍ او عياشۍ نه موږ دا اندازه لګولے شو چې ښځه د دوي د تيټو او حيواني جذباتو د تسکين او يا د نارينه اولاد پيدا کولو ذريعه وه او

لـه دغـه ئـې هيڅ زيات اهميت او حيثيت نۀ وۀ. (وګورئ د سورۀ نسآء ۴: ۱۸ تفسير د مولانا عثمـانـي مـرحـوم حاشيه د شيخ الهند مرحوم په ترجمه او د مولوي محمد علي لاهوري اردو تفسير)

اسـلام دنيـا تـه وښودله چې د ټولو بيوسو او کمزورو اسرې د دغه دين حق د ټولو نه لـوړې او اخـري پيغمبر پوره کړو چې نارينه د ښځې او ښځه د نارينه د شخصيت لازمي جز او د يـوۀ جـز موجودګي د بل د تکميل دپاره ضروري ده. د قرآن مجيد نارينه ؤ ته ارشاد دے چې: "هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَ اَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ" الـخ (بـقره ۲: ۱۸۷) يعني هغوي ستاسو او تاسو د هغوي لباس ياست" او د لباس په حقله بل ځائے قرآن مجيد ارشاد کوي چې "لِبَاسًا يُّوَارِىْ سَوْاٰتِكُمْ وَ رِيْشًا" الـخ (اعـراف ۷: ۲۶) يـعـنـي ستـاسو پوشش او پرده او (هم) زينت دے. يعنې ښځه او سړے په خپل ازدواجي تعلق کښې يو بل سره د انساني کمزورو او عيبونو او په بد رنګه شکل کښې د ښکاره کيدو نه او دغسې د معاشرې د خرابو نه ژغورونکي دي.

قـرآن پـاک هـم د سـړي او ښځې يو بل ته د نزديکت مقصد او غايت د حيات تقاضا پـوره کـول او د اولاد پيـدا کـول د نسـل بـاقي ساتل ښيي. خو ښځه د سړي د اغراضو آله او ذريعه نۀ ګرځوي. د الله جل شانه ارشاد دے:

"وَ مِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَ جَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّ رَحْمَةً ط اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝" (الروم ۳۰: ۲۱)

ترجمه: او د الله له نخښو څخه ده چې ستاسو له ځانونو ئې ستاسو جوړې پيدا کړے چې ترې تـسـکـيـن بيـامـومـئ او ستـاسـو تر مينځه ئې محبت او رحمت قائم کړو په دې کښې يقيناً هغه خلقو لره چې فکر کونکي دي (د الله د عظمت) نخښې دي.

او له دې اګاهو ارشاد دے:

"نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ" (بقره ۲: ۲۲۳)

ترجمه: ارتينې ستاسو کرونده دي.

کـۀ پـه قرآن شريف کښې خطاب په ظاهره سړو ته هم کوي نو حکم او هدايت نارينه ؤ او زنانه ؤ دواړو دپاره وي. کۀ ښځې د سړو له ځانونو پيدا دي نو دواړه د يو بل دپاره د ځان حيثيت لري. دواړه د يو بل دپاره د تسکين موجب او يو تر بله ئې داسې تعلق دے چې فطرت پـه خپـل صـحيـح او سليم حال وي نو لازماً به ترې د يو بل دپاره د محبت او رحم جذبات او داسـې نتـائج چې د معاشرې دپاره رحمت وي پيدا کيږي. د تسکين مفهوم ډير وسيع دے خو چې تـر څـو د سړي او ښځې ازدواجي تعلق دے نو لازماً پکښې د جبلت د رابرڅيره کيدو نه

چې کومه ناقلارتيا پيدا کيږي د هغې لري کيدل پکښې هم شامل دي. خو د قدرت مقصد د دغې ناقلارتيا پيدا کولو او په نتيجه کښې د سړي او ښځې يو بل طرف ته رغبت پيدا کولو نه نسل باقي ساتل دي. نو د تسکين حاصلولو صرف هغه فطري طريقه اختيارول پکار دي چې د قدرت دغه مقصد تري حاصل شي لکه چې يو سليم العقل زميندار او باغوان به هم د زرخيزي زمکې په خائے په شاړه کښې دانې ونۀ نولي. نو هر کله چې د قدرت د مقصد د حصول له دراړو يو خائے کيږي نو دواړو فرض دے چې د دې مقصد د حصول دپاره د يو بل ذريعه شي کۀ سړے د فصل د انسانې حاصل دپاره د دانو په حيثيت د ښځې ذريعه نو ښځه د پټي په حيثيت د سړي ذريعه ده. د انسان د ذريعې په طور استعمالول هغه وخت مذموم او قبيح دي چې يو انسان بل يو ازې د خپل غرض دپاره صرف په حيثيت د ذريعې استعمالوي.

موعود او راعي برحق ﷺ لکه چې تاسو ولوستل انسان سړے او ښځه د يو بل دپاره په لباس گرځولو دواړو ته د يو بل په ځان ونيلو او د قدرت د مقاصدو دپاره د هر يوۀ د بل دپاره په ضروري او لازمي ښنيلو ئې دواړه يو شان ونمانځل. علاوه له دې ئې دواړو ته خبردارے ورکړو چې ستاسو د دواړو په يو بل حقوق دي او په خانداني، کورني حکومت په نظم او نسق کښې ئې سنيارتې، مشري د سړي مقرره کړه او د الله تعالي دا ارشاد ئې عالمو ته واوروه :

"وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ط وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ " (البقرة ۲: ۲۲۸)

ترجمه : او د ښځو هم حقوق دي په مثل د هغو حقونو چې په دوي دي د (شرع د) قاعدې مطابق او د سړو درجه په مقابله د دوي څۀ زياته ده او الله غالب د حکمت څښتن دے.

"يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ط وَ لَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّآ اَنْ يَّأْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ وَ عَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ الخ" (النسا ۴: ۱۹)

ترجمه: اے هغو کسانو چې ايمان مو راوړو تاسو لره حلال نۀ دي چې په زور ښځې په ميراث کښې واخلئ او هغوي مۀ ايساروئ د دې دپاره چې څۀ مو چې ورکړي دي پکښې ترې څۀ واخلئ بې له دې چې ښکاره بې حيائي ئې کړے وي او هغوي سره ښۀ گزران کوئ.

"اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ وَّ بِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ الخ" (النسآء ۴: ۳۴)

ترجمه : سړي په ښځو حاکمان دي په سبب د دې چې الله ځنو له په ځنو فضيلت ورکړے دے او دې دپاره چې سړو خپل مال لګولے دے.

ما د "قوامون" ترجمه حاكمان كولو كبني د شاه رفيع الدين صاحب شيخ الهند مولانا محمودالحسن صاحب او مولانا اشرف علي صاحب رحمهم الله د ترجمو پيروي كړې ده. مولوي محمد علي لاهوري د "قوامون" ترجمه (اردو ترجمه او تفسير) ذمه وار كړې ده او په تفسيري نوټ كښې ئې معنىٰ د تاج العروس وغيره په حواله روزي مهيا كونكے او مكتفل كړې ده. مالک رام ئې ترجمه كارفرما او متكفل كوي. او وضاحت ئې داسې كوي: "گويا اصولاً په لحاظ د حقوقو په دواړو كښې هيڅ فرق نشته خو د خنو عملي حالتونو په وجه يوۀ ته په بلې ترجيح حاصله ده. دا بالكل هم داسې خبره ده لكه چې هر څو كۀ په بنيادمو كښې د مساوات اصول قائم دے يو انسان د بل برابر دے خو بيا هم حكم دے چې هر كله دوه تنه يو ځائے سفر كوي يا يو ځائے څۀ كار كوي نو يو دې پكښې امير كړے شي او بل دې ئې حكم مني او بيا ئې د امير صفات بيان كړي دي چې هغه دې په روحاني جسماني او عقلي لحاظ بهتر وي. هم دغسې دلته ئې هم دا اصول قائم كړو چې ښځه او سړے برابر دي د دواړو حقوق برابر دي خو د خنو خصوصياتو له قبله سړو ته په ښځو ترجيح حاصله ده مثلاً د سړي قوا د ښځې نه زيات مضبوط وي او عام طور سره ليدلي شوي دي چې په دنيوي معاملاتو كښې سړے زيات دور انديشه صائب الرائ وي... بس نو سړو ته د كور د مالک كيدو او روزي گټونكو په حيثيت په ښځو يو فضيلت حاصل دے په مقابله كښې ئې ښځو ته په سړو هم يو فضيلت حاصل دے چې دوي كور ناستې وي او بې تكليفه ورته هر څيز رسي گويا ښځې مخدومې دي او سړي خادمان. سړے ئې گټي او ښځې ئې لگوي. خو هر كله چې سړے ئې گټي نو دې دپاره هغه د ښځې نه د آمد او خرڅ د حساب اخستو حقدار دے." (ص ١٠٠-١٠٢)

خلاصه دا چې صرف دا نه چې ښځه ئې د سړي په رحم و كرم نۀ ده پريښے بلكې د هغې حقوق ئې قائم كړي دي او مقام ئې ورله وچت كړے او تر څو چې د فطري تفاوت او فرق تعلق دے په خانگي او معاشرتي معاملاتو كښې ئې كارفرمائي د سړي قائمه كړې ده د ښځې حكومت او كارفرمائي به د هغۀ د مشرى او نگرانى لاندې وي.

سره د دغو خبرو چې بره ئې ذكر وشو اسلام ښځه هم لكه د سړي د معيشت د اسباب، ذرائع او وسائل ميرمن يا مالكه گرځولې ده. د وادۀ په وخت كښې ئې د سړي له لوريه د هغې دپاره مهر مقرر كړے دے چې د هغې پوره مالكه وي او سړي ته هيڅ حق نشته چې تري بې د ښځې د بخشش او رضا څۀ واخلي په وراثت كښې ئې ورله حقوق مقرر كړي دي. زنانه د خپل مور پلار، زوي لور او څښتن په مال كښې وارثه وي او كۀ د وررور يا خور

ئـي نارينه اولاد نهٔ وي نو د هغوي مال کښې هم د وارثې په حيثيت برخه اخلي او سره د ښځې د معـاشـي او معاشرتي حقوقو د تعين او حفاظت د هغې دپاره د ذهني او روحاني ترقي لار ئې هـم دغسـې پـرانستـې او خلاصې ساتلي دي لکه چې د سړو دپاره. ارشاد نبوي ﷺ دے چې "طـلب العلم فريضة علیٰ کل مسلم و مسلمة" يعنې د علم حاصلول د هر مسلمان سړي او ښځې فرض دے. او د "الـرجـل تکون له الامة فيعلمها فيحسن تعليماً و يود بها فيحسن او بها ثم يعتقها فيتزوجها فله اجران" يعنې کهٔ چا سړي سره وينځه وي او هغې له تعليم او ښهٔ تعليم ورکـړي او ادب او ښـهٔ ادب ورتـه وښيي او بيا ئې ازاده او په نکاح کړي نو ورلره په برغ اجر وي. سړے او ښځه يو شان د حق او صداقت او د ايمان او اسلام د دعوت قبلولو د عمل صالح د کولـو او نتيـجې په طور ئې د نجات او فلاح او د الله جل شانهٔ د مراحم او انعاماتو حاصلولو اهل دي لکه چې ارشاد باري دے:

"مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً وَ لَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ" (النحل ۱۶ : ۹۷)

ترجمه: هـر څـوک کـهٔ سـړے کـهٔ ښـځه ښهٔ عمل کوي او مؤمن وي نو مونږ به ورته پاک ژوندون بخښو او چې کوم ښهٔ کارونه ئې کړي وي د هغو جزا به ورکوؤ.

"اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّ اَجْرًا عَظِيْمًا" (الاحزاب ۳۳: ۳۵)

تـرجمه: تـحـقيـق مسـلـمـانـان سړي او مسلمانانې ښځې، مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې، فـرمانبردار سړي او فرمانبردارې ښځې، راستباز سړي او راستبازې ښځې، صبر کونکي سړي او صبـر کونکې ښځې، عاجزي کونکي سړي او عاجزي کونکې ښځې، خيرات کونکي سړي او خيرات کونکې ښځې، روژه دار سړي او روژه دارې ښځې، پاک لمنه سړي او پاک لمنې ښـځې، الله ډيـر ډيـر يـادونـکي سړي او ښځې دوي لره الله بخښنه او ډير لوے اجر تيار کړے دے.

د انسـانيت په دغه کمزوري صنف د موعود برحق د احساناتو د احصا کولو دپاره دا نـوټ کـافي نهٔ دے. غواړم چې دغه بحث د يوې هندوې ميرمنې شريمتي سوشيلا بائي په وينا ختـم کـړم. ستـائيلے ميرمن په غلامانو د جناب سرور کائنات ﷺ د احساناتو د ذکر کولو نه پـس وائـي چـې "بـلـه ډله چې حالت ئې ډير د رحم وړ وهٔ د ښځو فرقه وه سړي طاقت مند وو

محنتيان او جفاكش وو او د هر قسم هنرونه چې په ذريعه ئې دولت يا روزي پيدا كيدے شي د سړو په لاس كښې وو غريبې ښځې په هر شان مجبورې او ناچارې وے او په هره خبره كښې د سړو محتاجې وے. او د كمزورې او بې وسيلې كيدو له قبله به ئې قسماقسم ظلمونه زغمل او هيڅ به ئې نۀ وئيل. سړو به چې څۀ رنګه او كوم حالت كښې ساتل غوښتلے هم په هغۀ كښې به وسيدو مجبورې وے. د ښځو حالت د غلامانو نه هم زيات خراب وۀ او حقيقت خو دا دے چې سړو هلو دوي بنيادم نۀ ګڼل. محمد صاحب ﷺ خدائے دې د هغوي روح ته تسكين او اطمينان وبخښي خلقو ته وښودل چې سړے او ښځه د انساني جنس دوه برابرې برخې دي او سړي د ښځو زينت دي او ښځې د سړو زينت دے. هغوي ﷺ په سړو د دوي (ښځو) قانوني حقوق مقرر كړل او خلقو ته ئې تلقين وكړو چې ځوک دوه يا درې لوڼه يا خويندې لويې كړي او په ښه روزنه ئې خواني ته ورسوي نو هغه به په جنت كښې ماته داسې ولاړ وي لكه د لاس ورومبۍ او دويمه ګوته سره برابر وي. خلق ئې د ښځو له وهلو منع كړل په دوي ئې د دروغو تهمتونو لګولو سخته سزا مقرره كړه او حكم ئې ورته وكړو چې په لاره كوڅه كښې ځي نو ښځو ته دې نيغ نيغ نۀ ګوري بلكې د ښځو دې داسې احترام كوي چې ستركې دې ټيټې ساتي او تيرېږي دې. د حضرت محمد صاحب ﷺ قول دے چې د ښځې، خوشبوي او مونځ محبت زما په زړۀ كښې پيدا كړلے شوے دے. له دې معلوميدے شي چې هغوي ﷺ د دې مظلومې او بې كسې ډلې څومره خيال ساتلو. هغوي ﷺ د زنانه حصه د پلار، ورور او خاوند په جائيداد كښې هم مقرر كړه او د اسلامي قانون له رويه د پلار په مړګ دوه حصې زوي او يوه لور اخلي او دا فرق دې دپاره دے چې د لور د ډوډۍ جامې بار د دې په خاوند وي نو دې دپاره ورته د زياتو روپيو ضرورت نۀ وي." (رساله پيشوا دهلي رسول نمبر ۱۹۲۹ء ص ۱۷۲)

بله زورلې او نتلې ناچاره او بيوسه طبقه د هغو بنيادمو وه چې د خان په شان د بنيادمو مال او ملكيت وۀ لكه د هغو د كورونو كښتونو غواګانو ميښو، ګډو بيزو اسونو خرونو او اوښانو او نورو شيانو او په دې طبقه كښې نر او ښځې دواړه شامل وو. دغه طبقه د غلامانو او وينځو وه. چې انسان د انسان مال شي او چې څنګه د مال د څښتن خوښه وي پكاروي ئې نو د بد حال ئې وينا ته څۀ اړې. په مينځنو قرنونو كښې په يورپ كښې مسيحي دين پيرو د غلامانو د بدحال نقشه يو امريكي مؤلف ايس پې سكاټ داسې راكاږي: "د غلامانو دوه لوے قسمونه د قانون په اړولې ژبه او پيچ دارې اصطلاح كښې د كوزې درجې غلام او د وچتې درجې غلام يادېدل. په دغو دواړو به د جاګيردار بشپړ واک وۀ او په حقله ئې چا لره د خواب ور كولو

ضـرورت ورته نهٔ وهٔ. د وړومبي قسم غلامان به د جاګیردار ذات خاص سره تړلي وو او لکه د منـقوله جائیداد هر وخت خرڅیدے یا بل شان ورکړل کیدے شو. د دویمي ډلي تړون زمکي سـره وهٔ او هیڅ رنګه تري نه نهٔ شول بیلیدے. خو په هر حال دا خوار بار برداران د څناورو په لړ کښي وو.... کهٔ یو جاګیر به چرې منتقل کیدو نو په لیک کښي به د دغو خوارو هډو نوم نـهٔ راتلو څکه چي د وخت د نافذ قانون له رویه دوي د جاګیر یوه برخه ګڼل شول. لکه خښته ګـټـه ونـي او جاړي وغیره..... جاګیردار به چي کوم ځائے خپل څناور ساتل هم هورې به ئي دوي لـره د استـوګـي ځـائـے ورکـړے پـه غاړه کښي به ئي معدني (د تانبي یا سپینو) غړونډے پـروت وهٔ چـي پـرې بـه ئـي د بـادار نـامـه لیـکـلـي وه. د دهٔ عـمـر به د قصده خراب ول شو.... شـخـصیت به ئي ورک شو. او د هغې زمکي خاوره به شو چي شپه او ورځ به ئي پرې خواري مـزدوري کـولـه چي مرګ به په خپلو راتلو له دغي مصیبته خلاص کړو. نو هغه به هم په دغه خـاوره کښـي ګډ او خاوره شو. د بې کسی او جانکاهي هیڅ یو مثال او د انساني ظلم او ستم هیـڅ یو افسوسناک نظر په ګرده نړۍ کښي ناسي نشته لکه په مینځنو قرنونو کښي د وچتي درجـي د غـلامـانـو وهٔ. (الـرق في الاسلام یعني اسلام مي غلامي کي حقیقت ص ۳۱، ۳۲) د سـکاټ د "هسټري آو دي مورش ایمپائر ان یورپ" د اردو ترجمي اخبار الاندلس جلد ۳ په حـوالـه) هـم دغـه مـورخ لیـکـي: "د غـلامـانو د خاندان د زنانه ؤ عصمت او عفت به بالکل د بادارانو په لاس کښي وهٔ. د یاد شوي قانون د انتهائي شرمناکو دفعو په وجه د دغو زنانه ؤ حال لـه حده تیر خراب وهٔ. په ډیرو جاګیرونو کښي قانون د غلامانو د ناویانو په حقله جاګیردارانو سـره بـې انتها ازادانه حقوق ورکړي وو او چي کوم ځائے دغه قوانین نافذ وو عمل به پرې هم کیـدو او یـو سـړے کهٔ هر څهٔ حیثیت به ئي وهٔ چي د یوهٔ جاګیردار واک به ئي ومنلو نو د دغه قـانـون پـه نهٔ منلو نهٔ توانیدو الخ" (ایضاً) د مینځنو قرنونو په یورپ کښي بلکې په روس کښي تر ډیره موده وروستو له اوسه څهٔ زمانه اګاهو "د وړومبی شپې قانون" یا "د بادار قانون" رائج وهٔ چـي لـه رویـه ئي چریکار یا مریے په دې خبره مامور او مجبور وهٔ چي خپله ناوې به وړومبی شپـه او ورپـسـي څو شپو له بادار لره لیږي. (وګورئ د فرینک یربي ناول "دي سیراسن بلیډ" د وړومبـی وینا وړومبی حصه ص ۷ تا ۱۹ چي د دې قانون ذکر پکښي راغي او د متعلق بیان پـه تـائیـد کښـي د تـاریـخـي شهادت دپاره د ناول ضمیمه کښي په دې حصه نوټ او د فاولر رائـټ نـاول "لارډز رائټ ان لینګیوډاک" چي بنیادي موضوع ئي هم دغه قانون او رسم دے) دا وهٔ د مینځنو قرنونو مسیحي دنیا کښي د دې بیوسه ناچاره مخلوق حالت. لکه چي د "الرق في الاسلام" فاضل مؤلف لیکي: "په انجیل کښي د غلامانو د ازادولو حکم هیچرته نشته او نهٔ

هغوي سره په ښهٔ ګزران کولو زور اچولے شوے دے. په عکس د دې غلامانو ته ځائے په ځائے تنبيه شوې ده چې د خپلو بادارانو اطاعت دې کوي او د هغوي د امر دې هيڅ قدرې خلاف هم نهٔ کوي." (ص ۲۷) او بيا د جناب عيسیٰ عليه السلام و علیٰ اُمه د حواريانو خطونو ته حواله کوي چې د غلامانو د هم دغه حيثيت وضاحت کوي. تر دې چې ورته دا هدايت کيږي چې د خپلو بادارانو داسې اطاعت کوئ لکه د حضرت عيسیٰ عليه السلام (ص ۲۷ او ۲۸) او اګاهو هم دغه فاضل ليکوال "د مذهب او اخلاق پوهنګره" جلد ۱۱ کښې د غلامی د عنوان لاندې د ايل ډې ايګيټ دا تحرير نقل کوي: "د حضرت مسيح په تعليمات کښې د غلامی هيچرته واضحه غندنه نشته. دا صحيح ده چې د غلامی مخالفه ډله د انجيل کوم آيت نهٔ شي پيش کولے. په عکس د دې د غلامی حامي ډله په خپله مرسته کښې د انجيل له اصل متنه استدلال کولے شي.... د سينټ پال په تعليماتو کښې وئيلے شوي دي چې آزاد او غلام يو برابر دي..... خو د نفس غلامی هيچرته غندنه نهٔ ده شوے." او په غلامی د دغه مقالې ليکونکے يعنې ايل ډې ايګيټ د دغه صورت حال د کليسا له طرفه دا معذرتانه خواب کوي چې حضرت عيسیٰ عليه السلام د غلامی د مذمت نهٔ کولو دا وجوهات دي چې (۱) هغوي خپل تعليمات په داسې انداز کښې پيش کړي دي چې هرې زمانې سره سم دي. (۲) يک لخته د غلامی د رواج ختمې کوشش به د رومن سوسائټي د معاشرت نظام ته لويه صدمه رسولے وه. (۳) د کليسا ابتدائي زمانه کښې د حضرت عيسیٰ عليه السلام د زر واپس راتلو طمع وه نو په داسې دنياوي امورو د توجه کولو دا خيال قائم کړے شو چې هر سړي لره په خپل حال کۀ حاکميت او کۀ محکوميت وي قناعت پکار دے. (۴) سينټ پال دا خطره ليدله چې کۀ عيسايانو دا محسوس کړه چې باوجود د دنياوي مراتبو د فرق عيسايان د روحاني برترئ او معنوي بزرګئ له اعتباره يو دي نو زوړ نظام معاشرت به درهم برهم شوے وهٔ.

د ديو اقتباساتو نه پس د "الرق في الاسلام" فاضل مؤلف مولانا سعيد احمد ليکي: "مونږ نهٔ وايو چې د حضرت عيسیٰ عليه السلام د تعليماتو دا توجيهات غلط دي خو ځهٔ به ښه وو چې په اسلام د اعتراض کولو په وخت دا تاويلات هم د دغو مسيحي ليکوالو د وړاندې وے." (ص ۲۵ ـــ ۲۷) ستائيلي مولانا د مسيحي ليکوالو اعتراض لره غير ضروري اهميت ورکړے دے او هر کله چې لکه په نورو ډيرو خبرو کښې خو د بحث لاندې موضوع د اسلام پوزيشن سره د مروج مسيحيت هډو ځهٔ نسبت نشته نو د الزامي ځواب هم ځهٔ ضرورت نهٔ وهٔ. زهٔ په دې بحث کښې د جناب مسيح عليه السلام ذات بابرکات نهٔ راولم ځکه چې مونږ د هغهٔ مبارک جناب او نورو نبيانو په شمول د دغو ټولو د سردار حضرت محمد مصطفي ﷺ

پـه تـعـليماتو كـښې تر ټـو د دين د اصولو او د حيات انساني د بنيادي اقدارو تعلق دے فرق نۀ كـوۀ زمـونـږ خبـرې د مروج انجيل منونكو او د مروج مسيحيت او كليسا پېروانو سره دي. دغـه تاويلات چې كوم بره د كليسا له طرفه شوي دي كۀ وۀ هم منلے شي نو تپوس كيدے شي چې داسـې كـوم اصـلاحـات (هـلـو كـم نـه كم) كړلي شوي وو چې د غلامانو د حالت ئې په تـدريجاً بنۀ كولو كـښې څۀ حصه وي. په معاشره كښې ئې دې خوارې طبقې له كوم حصول يا رعـايـت حـاصـل كـړے وۀ كۀ هم صرف د سينټ پال په تعليماتو كښې په داسې يو څو خبرو اكتفا وكړے شوه چې ترې دا نتيجه ويستلے كيدے شي چې آزاد او غلام برابر دي او دا هم په داسـې حـال كـښې چې نور ملګرې ئې غلام متنبه كوي چې د بادارانو داسې خدمت او اطاعت كـوئ لـكـه د حضرت عيسىٰ عليه السلام (نعوذ بالله من ذٰلك) په داسې حالاتو كښې د دغې برابرى دا مطلب هم كيدے شي چې نۀ دې يو په خپل بنۀ حال وياړي او نۀ دې بل په خپله بده ورځ ژاړي. دواړه تيريدونكي دي پاتې كيدونكي نۀ دي.

تر ټو چې په يهوديت كښې د غلامۍ د رواج او د غلامانو د حال او حيثيت تعلق دے مـولانـا سـعيـد احـمـد صاحب د فريد وجدي د دائره المعارف اووم جلده په تالمود مبني كوم اقتباس چې كوي له هغه او د مولانا صاحب له خپلې رائ بريښي چې په يهودو كښې په نسبت د نـورو قومونو د غلامانو حالت بنۀ وۀ. (ص ۳۳ـ ۳۵) خو په زړې عهدنامه كښې مونږ داسې احكام ګورو:

(الف) خروج ۲۱: ۲ "كۀ يو سړے خپل مريے يا وينځه په لرګي لګيا وي وهي او هغه ومري نو ضرور به ورله سزا وركيدے شي خو كۀ ورځ يا دوه وپائي نو نۀ به شي وركيدے ځكه چې هغه (مـريـے يـا ويـنـځه) د هغۀ د بادار مال دے." او بيا په مخ په ګزار د مريي يا وينځې د سترګې يا غاښ ويستلو دپاره ئې د ازادولو حكم دے.

(ب) شموئيل ۱۵: ۳ "نو اوس درومه او عمالقه ووژنه او هر څۀ ئې چې دي ورله تالا ترغه كړه او پـرې ئـې نـۀ ږدے او وې وژنـه نـر ښـځه دواړه، ماشوم او تې رودونكے بچے، غوبے، ګډې، اوښ او خر."

د غيـر عبـري (غير يهودي) مغلوبو او محكومو په حقله د كتاب شـموئيل د پورته نقل شـوي حـكـم نـه اندازه كولے شي چې د جنګ غير عبري قيديانو سره چې له مرګه به پاتې وو څۀ سلوک به كيدے شي.

پـه هـنـدوانو كښې غلامي په خپلې ډيرې سپكې او بدرنګې څهرې ښكاره وه. انسان پـه څـلـورو طبقو برهمن، كشتريه، ويش او شودر كښې ويشلے وۀ. شودر د غلامانو يا مريونو

مستقله ډله وه. او برهمن ئې ملا، کشتري ئې سپاهي او ویش ئې بنیا بقال وغیره وۀ. همېي خو د آئین او قانون له رویه برهمن اوله او له ټوله وچته ډله وه کشتري دویمه او ویش او شودر په ترتیب دریمه او څلورمه، اخري او له ټولو لاندې طبقه وه خو راجا یا بادشاه له کشتریانو وۀ او برهمن به ئې منتري یا وزیر وۀ.

منو د غلامۍ اووۀ او نارد پینځلس اسباب بیان کړي دي چې د منو اووۀ اسباب پکښې هم شامل دي. په دیو کښې د گرفتارۍ نه علاوه دوه دلچسپ او شرمناک سببونه په جوارۍ کښې بیلات او د قرضې د ادا کولو وس نۀ لرل هم دي. کۀ د چا شودر د لاسه به کوم برهمن ته تکلیف ورسید نو سزا به ئې وژلۀ وه. کۀ برهمن به ئې غلا وکړه سزا به ئې تاوان شوه. کۀ شودر به ئې وکړه نو وبه سیزۀ شو. کۀ د برهمن یا د هغۀ د کهالۀ په حقله به ئې چرې له خلې سپکه خبره ووتله نو ژبه به ئې له تالو راکښل او وویستل شوه. او داسې نورې ډیرې بهیمانه سزاګانې پرې مقررې او هر قسمه لاندې او گنده خدمتونه ورسپارلې شوې وو کۀ بادار به شودر آزار کړو نو هم به ئې دې له خدمت نۀ وۀ خلاص څکه چې غلامي ئې له وجوده نۀ بیلیدونکې ټوک وۀ. (الرق في الاسلام ص ٣٦، ٣٧)

غرض دا چې د اسلام بلکې د نصرانیت نه هم ډیر اګاهو د ایشیا او یورپ او هم د افریقې په ملکونو لکه هندوستان، چین، ایران، روم شرقي (څۀ برخه ایشیا او څۀ یورپ) شام، فلسطین، یونان، روم غربي (یورپ اګر کۀ د خپل عروج په زمانه کښې د ایشیا او افریقې ډیرې برخې ئې ماتحتې او محکومې وې) او په مصر او قرطاجنه (کارتهیج) کښې غلامي رائجه وه. او لکه چې تاسو ولیدل په مینځنو قرنونو کښې ئې د یورپ په براعظم ډیر خراب صورت اختیار کړې وۀ. په عربو کښې هم د اسلام د ظهور په وخت د غلامۍ رواج او دستور موجود وۀ. هر کله چې د قدیمي زمانې په متمدنو قومونو کښې د غلامانو بده ورځ وه نو د عرب غونډې یو غیر متمدن قام کښې چې د وچتې طبقې او لاندې طبقې فرق او امتیاز او نسلي شعور پکښې ډیر زیات وۀ. کۀ د غلامانو حالت او حیثیت د هغو نورو ملکونو نه بد نۀ نو ښۀ به هم نۀ وۀ.

په مختلفو قومونو او ملکونو کښې د غلامۍ د رواج د احوال او کوائف د دې اجمالي بیان نه پس اوس مونږ ګورو چې اسلام د غلامانو دپاره څۀ کړي دي. تر کومه حده ئې د دې مظلومې او بې کسه طبقې امداد او مرسته کړې ده او امید دې چې دغه اجمالي بیان چې تاسو ولوستلو په دې سلسله کښې به د اسلامي اصلاحاتو د افادیت او اهمیت، بلکې د هغه انقلاب چې د غلامانو د مظلومې طبقې د وچتولو دپاره ئې راوست د نوعیت اندازه کولو

کبنې زمونږ بنهٔ امداد کوي.

اسلام په حیثیت د انسان، د انسان او انسان تر مینځه د رنګ، نسل، ملک او قوم دولت او حکومت جاه و منصب په وجه فرق کول او دیو کبنې د څهٔ یا د کوم څیز د فضیلت او برتری معیار ګرځول غلط او باطل ګڼي. ټول انسانان یو او عالم انسانیت یو وحدت ګڼي. په قرآن پاک کښې د الله پاک ارشاد دے: "مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ط وَ مَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا "الخ (مائده ۵: ۳۲) یعنې چې چا یو انساني ځان بې د بل انساني ځان په بدل کښې یا ئې بې په زمکه کښې د فساد خوررولو په سزا کښې ووژهٔ نو لکه چې ټول وګړے ئې وواژهٔ. او چې چا یو انساني ځان وژغورهٔ نو لکه چې ټول وګړے ئې وژغورهٔ. هرکله چې اسلام ښیي چې تاسو ټول وګړے له یوهٔ نفسه او اصله یاست. "يٰاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ" الخ (النسآء ۴: ۱) نو ورسره دا تلقین هم او په ډیر زور ئې کوي چې ګرده وګړواله، عالم انسانیت، یوه ده، په یو وګړي کښې د وګړتیا، انسانیت نفي او ثبات په ټولو کښې ئې د منلو نهٔ منلو، نمانځلو او نهٔ نمانځلو برابر دے. او ورسره په ډیرو واضحو الفاظو کښې دا ارشاد هم کیږي چې هر کله تاسو د یوهٔ مور پلار اولاد یئ او له تاسو ډلې او اولسونه جوړول د پیژندګلو دپاره دي نو تحقیق په تاسو کښې د الله په نزد زیات عزتمند هم هغه دي چې څوک زیات تقوىٰ دار دي. "يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّ اُنْثٰى وَ جَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا ط اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَاللّٰهِ اَتْقٰكُمْ "او د دې آیه کریمه په تفسیر کښې د جناب رسالت مآب ﷺ ارشاد دے چې "لا فضل لعربي على عجمي و لا لعجمي على عربي ولا لاحمر على اسود ولا لاسود على احمر الا بالتقوىٰ" یعنې عربي په عجمي او عجمي په عربي او سُور په تور او تور په سُور هیڅ فضیلت نهٔ درلي خو په تقوىٰ. او د حجة الوداع په خطبه کښې ئې فرمائیلي وو "ان الله اذهب عنكم عيبة الجاهلية و فخرها بالاباء انما هو مؤمن تقي و فاجر شقي الناس كلهم بنو آدم و آدم خلق من تراب" یعنې په جاهلیت کښې ستاسو په پلار نیکهٔ ویاړیدنه الله تعالىٰ ختمه کړه انسان اوس خو یا نیک مرغه متقي یا بدمرغه ګنهګار دے ټول وګړے د آدمؑ زامن دي او آدمؑ له خاورې پیدا کړ شو. په سورهٔ روم کښې چې الله تبارک و تعالىٰ خپل آیات ښیي نو هورې دا ارشاد هم فرمائي چې د ژبو او رنګونو اختلاف کښې هم د پوهې او علم د څښتنانو دپاره نخښې دي. "وَ مِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَ اَلْوَانِكُمْ ط اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ " (الروم ۳۰: ۲۲) نو سره د دې چې د الله تبارک و تعالىٰ د حکمت تقاضا دا ده چې وګړے دې د تعارف، پیژندګلو دپاره په ډلو او اولسونو کښې وویشلے شي د رنګونو

او ژبو اختلاف دي ني هم وي. جغرافيائي پولي مختلف ملكونه او وطنونه دي پكښې هم وي، قومونه او قوميتونه دي ني هم وي. هر كله چې د ژبو او رنگونو بيلتون او جغرافيائي پولي وي او پـه مـختـلـفـو مـلـكونو كښې د انسان استوگه وي نو د قومونو او قوميتونو ويش به ني هم د نتيـجې پـه طـور وي خو د دې مقصد د انسان د انسانيت تقسيم نهٔ دے. دا د خالق د حكمت تـقـاضـا ده او بـايد چې د هغهٔ د حكمت په دې نخښو كښې دې غور و كړل شي. نهٔ خو د دغه تـقسيـم او ويـش پـه وجـه چـاتـه دا حـق رسيـږي چې انسانيت دې ووېشي او خپل اغراض او مـقـاصـد دې تـر لاسـه كـړي او نـهٔ چا ته د خپلو اغراضو او مقاصدو د تر لاسه كولو دپاره دا اختيـار حـاصل دے چې د خدائے په مقرر كړو پولو او حدودو تجاوز وكړي، وراني ني كړي او د هغهٔ په نظام كښې د خلل اچولو اقدام او كوشش وكړي. انسان د دغو فرقونو او بيلتونونو سـره هم يو دے او ټول انسانان د يوې وروروليٰ غړي دي. فضيلت او برتري د دغو اختلافاتو لـه قبـلـه نه بلكې د تقويٰ، ايمان او عمل په سبب ده. بيا په دې وړ او ډېر ستر خاندان كښې د مؤمـنـانـو يـو تر بله د ټولو نه لويه رشته او خپلوي د ايمان، اسلام ده. په دغه برادرى كښې د دوي ورورولـي زيـاتـه نـزدې او په بلې د هر قسم وروروليٰ فائقه ده. د قرآن پاک ارشاد دے چې "اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ".

د انـســانـي تـعلقاتو او د افرادو او ډلو په معاشره كښې د حيثيت او مقام په حقله د دې عـام تـعـليم په رڼا كښې زمونږ په اسلامي سوسائټۍ كښې د غلامانو د حيثيت د اندازې لگولو پـه حـقـلـه ډيـره ښه رهنمائي كيږي چې څهٔ د ټولو انسانانو په حقله بې له څهٔ استثنيٰ فرمائيلي شـوي دي هـم هـغـه څهٔ به په غلامانو هم حاوي وي. نهٔ صرف د هغوي په مينځ كښې يو تر بله بـلـكې هـر چـا سـره په تعلق كښې. خو بايد چې بيا هم وگورو چې په دې لړ كښې څهٔ خاص تعليمات هم شته كهٔ نه.

تـاسـو په زنانه ۇ د اسلام د احساناتو د بيان په لړ كښې هغه ارشاد نبوي ﷺ ولوست چې پـكښې د ويـنـځو سره د ښائسته سلوک كولو د ښهٔ تربيت كولو ازادولو ني او ورسره د وادهٔ كـولـو تـلـقيـن او ترغيب دے. اوس به په دې باره كښې د الله جل شانه او د هغهٔ د رسول بـرحـق ﷺ څـهٔ نـور احـكـام، ارشـادات او هـدايات او عملي نمونه او د هغوي د اصحابو او وروسـتـې د عهـد سلف د مسلمانانو افكار او عمل هم وخيرو. په سورهٔ بقره كښې ارشاد باري دے:

"لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَ لٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ وَ اٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ

السَّبِيْلِ وَالسَّآئِلِيْنَ وَ فِي الرِّقَابِ وَ اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتَى الزَّكٰوةَ" (البقره ۲: ۱۷۷)
ترجمه : ښیګړه (څهٔ هم) په دې کښې نهٔ ده چې تاسو مخونه خاتیز لورې ته وجارباسئ یا لویدیز لورې ته (بلکې اصل) ښیګړه خو دا ده چې چا په الله تعالیٰ ایمان راوړو او په اخرې ورځې او په فرښتو او په کتابونو او په پیغمبرانو او د الله پاک په مینه ئې مال ورکړو خپلوانو، یتیمانو او محتاجو او مسافرو او سوالیانو لره او د غاړې خلاصولو دپاره او مونځ ئې قائم کړو او زکات ئې ورکړو.

په سورهٔ بلد کښې الله جل شانه فرمائي: "وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ () فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ () وَ مَآ اَدْرٰكَ مَا الْعَقَبَةُ () فَكُّ رَقَبَةٍ() (بلد ۹۰ : ۱۰ - ۱۳)

وړومبے له دې نه چې د آیت ترجمه وشي بايد چې د "نجد" او "عقبه" او "اقتحم" معنیٰ واضحه کړل شي. د نجد معنیٰ لوړه، وچته زمکه، روښنانه لار وغيره (لغات القرآن جلد ۶) او د عقبة معنیٰ ده غونډۍ او غرهٔ ته ختو کښې ګرانه لار (لغات القرآن جلد ۴) د اقتحم (صیغه ماضي واحد مذکر غائب) معنیٰ ده هغه راوخوت هغه ورننوت (لغات القرآن جلد ۱) د آیت مطلب دا دے چې مونږ دوه لارې انسان ته ښودلي دي، د ایمان او کفر، حق او باطل، د ښو او بدو او دواړه لارې لکه د دوؤ وچتو زمکو، د دوؤ غونډو، ډاګو یا لوړو ښکاره او جوتې دي خو د حق وچت مقصد ته چې بلندي او رفعت ئې لکه د یوهٔ وچت غرهٔ د شوکې دے د رسیدو په لاره کښې پیچومي او ګراني دشوار ګزارې مرحلې دي لکه چې په وچتو او لوړو غرونو کښې وي. نو انسان په ځائے د دې چې له دشوارو او خطرو بې پروا او دلیرانه پرې ورشي او په وچت مقام ودرېږي ځان د ایمان او حق او د ښو اخلاقو د بلند مقام نه عموماً ژغوري نو اوس به د آیت ترجمه داسې وي:

"او مونږ دوه وچتې لارې ورروښنیلے خو (په ګرانه لار د بلندۍ ورننه نهٔ ووت او) په بلندۍ ونهٔ خوت او تهٔ څهٔ وپوهیدے چې څهٔ ده ګرانه لار؟ د غاړې خلاصول (دي)." او ورپسې هم د دغه شان نورو لوړو اخلاقو بیان جاري دے چې په مخ به وخیړل شي.

مولانا سعید احمد صاحب د دې آیت د مطالبو په لړ کښې لیکي چې: "له حضرت برا روایت دے چې یو سړے د آنحضرت ﷺ په والا مرتبت خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو چې ماته یو داسې عمل وښیئ چې په جنت کښې مې داخل کړي ورته ئې وفرمائیل چې "اعتق النسمة و فك الرقبة" مریے ازاد کړه او غاړه خلاصه کړه. اعرابي عرض وکړو "آیا عتق نسمه او فک رقبة دواړه یو نهٔ دي؟ آنحضرت ﷺ وفرمائیل نه عتق نسمه خو دا چې تهٔ پخپله مریے ازاد کړه او فک رقبة دا چې چا مریي سره ئې د غاړې په خلاصولو کښې مرسته

وکړې. (الرق في الاسلام ص ١١٥)

د صدقات کوم مصارف چې په قرآن کريم کښې ښئيلي شوي دي په هغو کښې د غلامانو ازادول هم شامل دي ارشاد باري دے:

"اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَ فِي الرِّقَابِ" (التوبه ٩:٦٠)

ترجمه: صدقات د فقيرانو، مسکينانو او د هغو دپاره دي چې په وصولي ئې مقرر دي او د چا د زړونو د پيوستون چې ضرورت دے او د مريونو د غاړو خلاصولو دپاره.

د وصولونکو له ذکره جوته ده چې په دغه آيت مبارک کښې هغه صدقات ياد شوي دي چې ادائيگي ئې لازمي او وصول ئې د رياست په ذمه ده لکه زکوٰة. نو د انفرادي سعي او کوشش نه علاوه د غلامانو ازادول د رياست په فرائضو او وظائفو کښې هم شامل دي. په دغه باره کښې يو څو نور ارشادات باري دي:

"وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَ لَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّ بِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ وَ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ" (النسآء ٤: ٣٦)

ترجمه: او د الله عبادت کوئ او د هغهٔ سره هيڅ څيز مهٔ شريکوئ. او د مور او پلار سره او د خپلوانو سره او د يتيمانو سره او د مسکينانو سره او د نزدې گاونډي او د لرې گاونډي او د ناست پاست او د مسافر سره او د وينځو او مريونو سره احسان کوئ.

"وَالَّذِيْنَ يَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا وَّ اٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ" (النور ٢٤: ٣٣)

ترجمه: له ستاسو مريونو او وينځو هغه کسان چې غواړي چې ورله د ازادۍ ليک ورکړئ نو ورکړئ ورله کهٔ د ښيگړې نخښې مو پکښې ليدلي دي او (د ازادولو سره) ورله د الله له هغه ماله هم څهٔ ورکړئ چې تاسو لره ئې درکړے دے.

"وَ مَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَاً فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا" (النسآء ٤: ٩٢)

ترجمه: او چا چې (بې له قصده) په خطا يو مسلمان ووژهٔ نو پرې واجب دي چې يو مسلمان غلام (يا وينځه) ازاد کړي او وارثانو لره (د مقتول) ديت ورکړي الا چې هغوي ئې ورته وبخښي.

او صرف د مسلمان تخصيص نهٔ دے بلکې د ذمي او معاهد په وژلو کفاره هم دغه

شان ده.

"فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ؕ وَ اِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ" (النسآء ۴: ۹۲)

ترجمه: او كۀ هغه له داسې قامه وي چې ستاسو دښمن وي خو دې مسلمان وي نو د هغۀ په وژلۀ هم يو مسلمان غلام (يا وينځه) ازادول واجب دي. او كۀ هغه له داسې قامه وي چې ستاسو او د هغۀ تر مينځه معاهده وي نو د مقتول وارثانو له به ديت وركول او يو مسلمان غلام (يا وينځه) ازادول به ضروري وي.

او د قسمونو د كفارې په طور هم د غلامانو د ازادولو حكم دے. ارشاد باري دے:

"وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ" (المجادله ۵۸: ۳)

ترجمه: او چې كوم خلق خپلو ښځو ته مياندې ووائي او بيا له خپلې وينا جاروځي نو ورله بايد چې يو تر بله نزدې كيدو نه وړومبے يو غلام ازاد كړي (يا وينځه) له دې به تاسو نصيحت اخلئ او الله په (هر) هغه څۀ چې تاسو ئې كړئ خبر دے. [جاهليت كښې به عربو قسم خوړلو او ښځې ته به ئې وئيل چې "ظهرك على كظهر امى" يعني ستا شا په ما لكه د خپلې مور شا او هغه خواره به ئې بيا نۀ ښځه كوله او نۀ به ئې پريښوده هم دغسې به ئې زوړنده ساتله دغه قسم او عمل ته ئې ظهار وئيل.]

اسلام ظهار منع كړو خو كۀ د ظهار نه پس څوك په خائے د پريښودو خپل قول واپس اخلي نو د برني حكم او ارشاد تعميل به كړي. او:

"لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَ لٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ" (المائده ۵: ۸۹)

ترجمه: الله تعالىٰ به تاسو ستاسو په فضولو (بې ارادې) قسمونو نۀ نيسي خو په هغو به مو نيسي چې په كلك نيت مو كړي وي د هغو كفاره لسو مسكينانو له د متوسطې درجې خوراك وركول دي چې د خپل كور خلقو له وركوي يا ورله جامې وركول يا يو غلام (يا وينځه) ازادول وي.

تاسو وليدل او وكتل چې كوم ځائے (۲: ۱۷۷) الله تعالىٰ په هغۀ جل شانه په يوم اخر فرښتو كتابونو او انبياؤ عليهم السلام د ايمان راوړلو ارشاد كوي د مونځ قائمولو د زكوٰة د وركړې حكم فرمائي نو ورسره د زكوٰة د ذكر نه وړومبے هم د الله په مينه د مال د وركړې هدايت كوي چې يو مصرف ئې د غلامانو ازادول دي. بيا په (۴: ۲۴) كښې د الله تعالىٰ بې له

دي چې څوک ئې شریک وګرځولې شي د عبادت کولو او والدینو سره د احسان کولو حکمونو سره چې کوم هدایات دي هغو کښې غلامانو سره د ښیګړې ارشاد دے. "فک رقبة" ته د اعلیٰ اخلاقو او انسانیت بلند مقام ته رسیدل وئیلے شوي دي. (۹۰: ۱۰ ـ ۱۳)
جناب رسالت مآب ﷺ د حضرت برا د روایت مطابق د عتق نسمه او فک رقبه کوم فرق بیان کړے دے د هغۀ په بنا وئیلے شو چې د فک رقبه مفهوم زیات وسیع او عام دے. عتق نسمه خو د یوۀ سړي په خپله خوښه غلام ازادول دي او فک رقبه د غلام په خوښه د هغۀ غاړه خلاصول او په دې کار کښې ورسره کومک کول او دا کار هم هغه سړے کوي چې په خپله خوښه دغه کار وته لیواله وي. نو غالباً چې فک رقبه کښې دواړه صورتونه شامل دي. نو په یادو شوؤ آیات بینات کښې چې په کوم انداز او شان غلام سره د احسان ذکر او د ازادولو ئې هدایت او حکم دے له هغۀ په ښۀ شان اندازه کیدے شي چې د هادئ موعود په دین او شریعت کښې د غلام او غلامۍ څۀ مقام او حیثیت دے.
اوس به په دې لړ کښې د حضرت سرور کائنات ﷺ سنت او د صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین اسوۀ حسنه هم وخیږو. د آنحضرت ﷺ ارشادات دي:
"من اعتق نسمة اعتق الله لكل عضو منها عضوا من النار"
ترجمه: چا چې یو ځان آزاد کړو نو د هغۀ هر یو عضو به د ازاد کړي شوي غلام د هر یوۀ عضو په بدل کښې الله تعالیٰ د دوزخ له اوره ازادوي.
یعنې لکه چې ازادونکي د غلام هر یو غړے له خپله واکه آزاد کړو نو هم دغسې به الله تعالیٰ د هغه ازادونکي سړي هر یو غړے له اوره ژغوري.
یو ځل یو سړي خپل مریے وهلو هغۀ به ورته سوال کولو چې د خدائے دپاره رحم وکړه خو هغۀ له وهلو لاس نۀ راکښۀ. جناب سرور کائنات ﷺ نعرې واوریدے او هغه طرف ته ئې تشریف وفرمایۀ هغه سړي چې دوي مبارک ﷺ ولیدل نو لاس ئې راکښۀ دوي مبارکو ﷺ ورته وفرمائیل چې دۀ تاته خدائے حریادولو او تا بیا هم نۀ منل او چې زۀ دې ولیدم نو له وهلو منع شولې. هغه سړي عرض وکړ چې یا رسول الله ﷺ دا غلام د خدائے دپاره آزاد دے. هغو مبارکو ورته وفرمائیل کۀ تا دا نۀ وے آزاد کړے نو د دوزخ اور لوګیه کړے وے.
د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله تعالیٰ عنهما د یوۀ روایت له مخه د جناب رسالت مآب ﷺ د مریي په حقله ارشاد دے چې "اعفوا عنه في كل يوم سبعين مرة" یعنې هره ورځ ئې اویا ځله بخښئ. یعنې له خطاګانو ئې تیریږئ.

"ثالثة جدهن جد و هز لهن جد الطلاق و العتاق و النكاح"

ترجمه : درې څيزه داسې دي چې واقعي او ټوقني (د ګپ) وينا پکښې يو شان ده طلاق، آزادول (د غلام او وينځې) او نکاح.

"من قتل عبده قتلناه و من جدع انفه جدعناه"

ترجمه: څوک چې خپل غلام وژني مونږ به ئې وژنو او څوک چې ترې پوزه پريکوي مونږ به ترې پوزه پريکوو.

"من لطم مملوكه وضربه فكفارته ان يعتقه"

ترجمه : چا چې خپل مريي له پرق ورکړو يا ګزار ئې پرې وکړو نو کفاره ئې د هغه غلام ازادول دي.

"ارقاء كم ارقاء كم اطعموهم مما تاكلون و اكسوهم مما تلبسون."

ترجمه: ستاسو غلامان ستاسو غلامان چې څۀ پخپله خورئ هغه څۀ په دوي خوروئ او چې څۀ پخپله اغوندئ هم هغه څۀ ور اغوندوئ.

"اخوالكم جعلهم الله تحت ايديكم فمن كان اخوه تحت يديه فليطعمه مما ياكل و ليكسه مما يلبس و لا يكلفه ما يغلبه فان كان كلفه ما يغلبه فليعنه."

ترجمه : مريونه ستاسو ورونه دي چې الله ستاسو د لاسونو لاندې کړي دي نور د چا چې ورور ئې تر لاسونو لاندې وي نو چې څۀ خوري هغه دې ورته خوروي او چې څۀ اغوندي وراغوندوي دې او داسې کار دې پرې نۀ کړي چې کړوی ئې. او کۀ کړي پرې نو پکښې دې ورسره کومک وي.

يو ځل رسالت مآب ﷺ يو غلام خپلې لور بي بي حضرت فاطمه الزهرا رضي الله عنها ته وبخښلو دغه وخت هغې مبارکې څخه يوه وړه کپړه وه چې کۀ سر مبارک به ئې پرې پټ کړو نو پښې مبارکې به ئې وښکاريدے او کۀ دغه مبارکې به ئې پټې کړے نو سر مبارک به ئې ښکاره شو چې حضور ﷺ دغه حالت وليدو نو ورته ئې وفرمائيل "لمس عليك باس انما هو ابوك" يعنې هيڅ باک نشته دے خو ستا پلار دے. سبحان الله وګورئ دغه غلام ته تعظيماً د چا پلار وئيلے شي. د سيد العرب والعجم او سرور کونين رسول الثقلين د خوبنې لور پلار او دا وينا کونکے هم هغه ذات ګرامي پخپله دے ﷺ و علیٰ آله الف الف تحية و سلام.

د خليفۀ رسول الله حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د لور بي بي حضرت اسمآء رضي الله عنهما نه روايت دے چې "امر النبي ﷺ بالعتاقة في كسوف الشمس" يعني جناب

رسالت مآب ﷺ د نمر تندر نیولو په موقعه د غلام ازادولو امر فرمائیلے دے. او یو بل حدیث کښې هم چې هم دغې مبارکې روایت کړے دے راغلي دي چې "كانو مرعند الخسوف بالعتاقة" یعني د سپوږمۍ تندر نیولو په موقعه به مونږ ته د غلام ازادولو حکم کیدو.

د مریې او وینځې او بادار او بادارې په خپلو کښې یو بل ته د خطاب په حقله د جناب رسالت مآب ﷺ ارشاد دے:

"لايقولن احدكم عبدي و امتي و لا يقولن المملوك ربي او ربتي و ليقل المالك فتاي و فتاتي و ليقل المملوك سيدي و سيدتي فانكم المملوكون والرب الله عزوجل."

ترجمه: تاسو کښې دې څوک "زما مریيه" او "زما وینځې" نهٔ وائي او نهٔ دې غلام "زما ربه" او "زما ربې" وائي مالک لره باید چې "زما بچیه" او "زما بچې" وائي او مملوک لره باید چې "زما سردار" او "زما سردارې" وائي ولې چې تاسو ټول مملوک یاست او رب خو د ټولو الله عزوجل دے.

له حضرت انس رضي الله عنه روایت دے چې د جناب رسالت مآب ﷺ دوه غلامان وو یو حبشي او یو قبطي. یو ځل د دواړو ترمینځه څهٔ ګډې وډې خبرې وشوې یو بل ته حبشي او دهٔ بل ته قبطي ووې چې د دوؤ کونو سردار ﷺ خبر شول نو وې فرمائیل چې تاسو داسې مهٔ وایئ تاسو خوپه آل محمد ﷺ کښې داخل یاست. صلي الله عليٰ محمد و عليٰ آله و اصحابه اجمعين الي يوم الدين.

د امیر المؤمنین حضرت علي المرتضیٰ کرم الله وجهه نه روایت دے چې "كان اخر كلام رسول الله ﷺ الصلوٰة الصلوٰة اتقوا الله فيما ملكت ايمانكم." یعني د رسول الله ﷺ اخري کلام دا وهٔ د نمانځهٔ خیال ساتی د نمانځهٔ خیال ساتئ او د خپلو مریونو او وینځو په حقله له الله ویریږئ. (الرق في الاسلام)

په دې باب د کتاب الله د ځنو ارشاداتو او احکامو او د رسول الله ﷺ د اسوهٔ حسنه د یو څو پلوشو د لیدلو نه پس به اوس د اصحاب کبار رضي الله تعاليٰ عنهم او وروستو د عهد سلف د مسلمانانو د قول او عمل نمونې ګورو.

سرور کونین علیه التحیة والسلام د وصال نه لږه موده وړاندې د شام په مهم یو لښکر روان کړے وهٔ. لا هیله مقام جرف ته رسیدلے وهٔ چې د هغو مبارکو ﷺ د طبیعت شریف د ډیرې ناسازۍ نه خبر شو او هم هلته ایسار شو. تر دې چې د جناب رسالت مآب ﷺ وصال وشو. د دې لښکر سردار حضرت اسامه رضي الله عنه د حضرت سرور کائنات ﷺ د غلام حضرت زید رضي الله عنه زوے وهٔ. (هم هغه اسامهؓ چې یو ځل ئې د بني مخزوم د یوې زنانه

چې غلا ئې کړې وه سفارش کړے وۀ او جناب رسالت مآب نۀ وۀ منظور کړے) هر کله چې د حضـرت اسـامـهؓ عـمـر شـريف ډيـر کـم وۀ نو کوم وخت چې حضرت صديق اکبرؓ د خلافت فـرائـض او وظـائف سـنبـالـولـو نه پس ـ دغې لښکر د روانګۍ امر وفرمائيلو نو حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د څنو انصارو نمائندګي کونکے عرض وکړو چې په دې لښکر کښې په کـلـونـو مشـران او تـجـربه کار اصحاب شامل دي اسامهؓ نوے ځلمے دے بهتره به دا وي چې څوک مشر سړے دې د دې لښکر امير مقرر کړے شي. د رسالت د شمعې هغه پتنګ چې دا مشـوره واوريـده نـو پـه ډيـر قهـر ئـې وفرمائيل "په د خطاب زويه رسول الله ﷺ خو اسامهؓ د لښـکـر اميـر مـقـرر فـرمـائيلے وۀ او تۀ اوس ماته وائے چې زۀ ئې معزول کړم" حضرت فاروق اعـظـمؓ چې دا واوريدل لو بيرته ئې تشريف يوړ . او هغه کسان چې د دې مشورې ترغيب ئې ورکـړے وۀ وزورل. چـې سـتـاسو له قبله حضرت صديقؓ په ما خفګان وکړو. حضرت خلافت مـآبؓ امـر وفـرمـائيـلـو چـې څوک په دې لښکر کښې شامل وو يو کس دې هم ترې نۀ پاتې کيږي او جرف ته دې ځان ورسوي. په نفس نفيس ئې هم هورې تشريف يوړو او لښکر ته ئې د روانـګـۍ حـکـم وفـرمـايۀ. حضرت اسامهؓ په اس سور وۀ او حضرت خلافت مآبؓ ورسره د جـلـب دپاره څو قدمه پياده روان شول. حضرت اسامهؓ عرض وکړو چې يا تاسو هم سوارۀ شئ يا راته اجازت وفرمايئ چې زۀ هم کوز شم. ورته ئې وفرمائيل چې ستا دې په خدائے قسم وي چې کوز نۀ شے او زۀ به هم سور نۀ شم. څۀ وشو چې د الله په لاره کښې زما په پښو هم دوړې پريوتې. د غازي په هر هر قدم ئې په بخره اووۀ سوه نيکۍ ليکلے کيږي. بيا ئې ورته وفرمائيل چې **کۀ تۀ نامناسبه نۀ ګڼې** نو عمرؓ ماته پريږده ماته به ئې د مشورې ضرورت وي.

سبحان الله په اسلام کښې د غلامې څۀ شان دے چې د ازاد کرده غلام فرزند د لښکر اميـر دے او هـم پـه دغه لښکر کښې ئې قريشي عمر رضي الله عنه ماتحت دے. هغه عمرؓ چې عـمـريـن (حـضـرت عمرؓ ابن الخطاب او عمرو بن هشام ابوجهل) کښې د يوۀ د اسلام دپاره د رسـول الله ﷺ دعـائـے پـه حـقـلـه قبـولـه شـوه. او چې هغه مبارک اسلام راوړو نو حضرت جبـرائيـل اميـن عـلـيـه الـسـلام په بارګاه رسالت کښې حاضر شول او وې وئيل چې د عالم بالا خـلـق د دوي پـه اسـلام تاسو ته مبارکي عرض کوي. او څۀ شان دے د غلامۍ په اسلام کښې چـې د امير لشکر نه د بارګاه رسالت اخص الخواص صديق اکبرؓ چې د جمهور اهل اسلام په نـزد د پيـغـمبـرانو نه پس افضل ترين انسان دے خواست کوي چې عمرؓ ماته د مشورې دپاره پريږده. او حضرت اسامهؓ دا مرشدانه درخواست سعادتمندانه معمولوي او منظوروي. دلته به دا وضـاحـت مناسب بلکې ضروري وي چې دا مهم د هغو اقداماتو د سلسلې يوه کړی وه چې

کوم حضرت رسالت مآب ﷺ د عرب او شام د سرحد د يوۀ رئيس شرحبيل بن عمر له لاسه د حضرت رسالت مآب ﷺ د قاصد حارث بن عمير د شهادت نه پس کړي وو. وړومبے آنحضرت ﷺ چې کوم لښکر په ۸ هجرۍ کښې شام ته ليږلے وۀ د هغۀ امير د حضرت اسامۀ والد ماجد حضرت زيدؓ وۀ. په دې لښکر کښې د آنحضرت ﷺ د ترۀ زوے د حضرت علیؓ ورور حضرت جعفرؓ او حضرت خالدؓ هم شريک وو. حضرت خالدؓ د بني مخزوم د رئيس او په قريشو کښې د ډېر مالدار سړي وليد زوے وۀ بني مخزوم هغه قبيله وه چې په ايام جاهليت کښې به د جنګ په وخت د قريشو علمبرداري به هم دوي کوله.

تاسو د اشموئيل په کتاب کښې هغه احکام چې د جنګ په وخت کښې بني اسرائيل ته د عمالقه ؤ سره د سلوک په باره کښې ورکړل شوي دي ولوستل. جيش اسامۀ ته چې حضرت صديق اکبرؓ کوم هدايات ورکړي وو له هغو يو څو دادي: "د دښمن ښځې لاسونه به نۀ غوڅوئ. ماشومان، بوډاګان او ښځې به نۀ وژنئ د کجورو ونې به نۀ وباسئ نۀ به ئې سېزئ. ميوه دارې ونې به نۀ پريکوئ. بزه، غوا او يا اوښ به بې د خوراکه د بل څيز دپاره نۀ حلالوئ. تاسو به داسې خلق بيامومئ چې عمر ئې د عبادت خانو دپاره وقف کړے دے دوي ته به هيڅ نۀ وايئ. او په څېل حال به ئې پرېږدئ الخ" (صديق اکبرؓ تاليف د مولانا سعيد احمد)

د حضرت عمر فاروقؓ په عهد خلافت کښې حضرت عمرو بن العاصؓ د مصر ګورنر وۀ. حضرت فاروق اعظمؓ ته په قبطيانو د هغوي د تشدد په باره کښې څۀ شکايات ورسېدل آنجنابؓ ورته وليکل: "يا عمرو منذکم تعبدتم الناس وقد ولدتهم امهاتهم احرارا" يعني په عمرو تاسو خلق غلامان کله نه جوړول شروع کړل حال دا چې ميندو ئې خو ازاد زوولي وو. هم د حضرت فاروق اعظمؓ قول دے "لعن الله قوماً يرغبون عن ارقائهم ان ياکلوا معهم" د خدائے لعنت دې وي په هغه خلقو چې څپلو غلامانو سره د يو ځائے خوراک کولو نه ځان ژغوري.(الرق في الاسلام)

حضرت عثمان رضي الله عنه يو ځل د څپل غلام غوږ راکښو سمدستي ئې له خدايه وېره وشوه سمدستي ئې غلام ته وفرمائيل چې زما غوږ هم راکاږه. اول خو هغۀ انکار وکړو خو د آنجنابؓ په اصرار ئې چې تعميل وکړو نو څۀ ورو غوندې ئې راکښو. آنجنابؓ ورته وفرمائيل چې زۀ له خدايه وېرېږم ګوره چې څومره ما ستا غوږ راکښلے دے زما هم هغه هومره راکاږه. غلام عرض وکړو چې څومره تاسو زما غوږ راکښلے دے کۀ ما لۀ هغه مقداره ستاسو زيات راکښو نو زۀ هم له خدايه وېرېږم. (انوار القرآن تفسير پاره عم ص ۴۱)

يو ځل جناب علي المرتضيؓ خپل غلام ته څۀ رقم ورکړو چې ورشه او د مختلفو قيمتونو دوه کپړې راوړه. چې هغۀ تعميل وکړو نو چې کومه زياته باريکه او قيمتي وه هغه ئې غلام ته ورکړه او معمولي او کم قيمته ئې پخپله واخسته. او ورته ئې وفرمائيل چې ته د دې زيات حقدار ئې چې ځوان او تجمل خوښونکے او زۀ بوډا يم. (الرق في الاسلام)

د آنجنابؓ نمسي او د حضرت امام حسينؓ فرزند ارجمند حضرت امام زين العابدينؒ چې کوم وخت دا حديث واوريد چې څوک يو غلام آزاد کړي نو هر هر غړے به ئې په بدل کښې وبخښلے شي نو هم هغه وخت ئې خپل غلام مطرف چې په لس زره درهمه ئې اخستے وۀ آزاد کړو. (ايضاً)

د حضرت سرور کونين عليه التحية والسلام ارشاد دے چې "ان العبد اذا نصح لسيده واحسن عبادة الله فله اجره مرتين" يعني چې غلام خپل آقا ته د نيکو نصيحت کړي او لکه چې بايد د الله تعالىٰ عبادت کړي نو ورلره برغ اجر دے. د خلفائے راشدين مثيل حضرت عمرو بن عبدالعزيز رحمة الله عليه په خوانى کښې يوۀ غلام له څپيړه ورکړه هغۀ وپوښتل چې ولې مو ووهلم وې فرمائيل چې تا قصور کړے دے بيا ئې وپوښتل چې له تاسو هم چرې د خپل مالک په کار کښې قصور شوے دے؟ وې وې هو. نو اوس غلام پوښتنه وکړه چې ستاسو مالک هم درلـه په سزا درکولو کښې داسې بيړه کړې ده. د دې خبرې په حضرت عمر ثاني داسې اثر وشو چې فوراً ئې غلام ته ووې چې ځه د خدائے دپاره مې آزاد کړے. او د دې واقعې نه پس چې به ئې دعا کوله نو الله پاک به ئې داسې يادولو: "بردبار خدائے چې گنهگار له په سزا ورکولو کښې بيړه نۀ کوي." دا ځکه چې هر کله جناب رسالت مآب ﷺ غلامانو ته اختيار ورکړو چې خپلو بادارانو ته نصيحت کړئ نو بادارا ن د غلامانو په نصيحت اوريدو او منلو ئې مامور شول. يو ځل حضرت عمر ثاني ودۀ وۀ وينځې ورته بوزے وهلو چې خوب پرې غلبه وکړه او وده شوه. حضرت موصوف راويښ شول او بوزے ئې هغه وينځې ته وهل شروع کړل. هغه چې راويښه شوه او چې په دغه څۀ ليدو ناقلاره شوه نو ورته ئې وفرمائيل ته خو هم زما په شان بنيادم ئې ستا هم گرمي کيږي لکه چې تا ماله بوزے وهلو ما هم درته ووهلو. (ايضاً)

د بنـي اميـه عهـد بـې د حضرت عمر ثاني د زماني نه چې د خلافت راشده نمونه وه د ملوکيت دور وۀ خو په دې دور کښې هم د غلامانو دا حال وۀ چې د حضرت عمر ثاني د ترۀ او سخر عبدالملک بن مروان په زمانه د اهالي مکه، يمن، مصر، شام، جزيرې، حرم، بصرې، کوفې سرداران په ترتيب عطا بن ابي رباح، طاؤس بن کيسان، يزيد بن حبيب، مکحول

الدمشقي، ميمون بن مهران، ضحاک بن مزاحم، حسن بن ابي الحسن، او ابراهيم النخعي وو او دوي ټول سوا له ورو ستي کس يعني ابراهيم نخعي غير عرب او غلامان وو. په بني اميه کښې د نسلي تفوق احساس او عربي عصبيت له حده تير وۀ. چې د دغه ګورنرانو رپورټ ورته کيدۀ نو د يو يو په حقله به ئې تپوس کولو چې غير عرب غلام څنګه سردار شو. ورو به وئيل شول چې د ديانت او اهليت له قبله لاجواب به شو چې د بصرې سردار حسن بن ابي الحسن پورې رپورټ وشو نو عبدالملک زهري ته چې تپوسونه ئې ترې کول وائي "ويلک" (په تا افسوس) اخر په کوفه کښې د مسلمانانو د پيشوايي واګې د چا په لاس کښې دي. زهري چې ورته ووې چې د ابراهيم نخعي په لاس کښې دي چې عرب دے نو عبدالملک ووې چې زهري، اوس دې چرته داسې خبره وکړه چې د غم پيټے مې له زړۀ لرې شو. او څنې روايتونو کښې دا هم شته چې ورته ئې ووې چې دغه آخري خبره دې نۀ وے کړے نو نزدې وه چې اينه مې چاودلے وے. او دا ئې هم ووې چې يوه ورځ به دا غير عرب غلامان د عربو سرداران او پيشوايان شي دوي به په منبر ناست خطبې لولي او عرب به ورته کښته ناست وي. زهري ورته کړه چې امير المؤمنين دا خو د خدائے خبره او د هغۀ دين دے چې څوک به ئې علم حاصلوي عالم به ئې شي او هم هغه پيشوائي کړي. او چې څوک ئې پروا نۀ کړي پريوزي به او خواه ناخواه به پريوزي. د بنو اميه د استبداد برخلاف چې مسلمانانو کومې قرباني ورکړې دي د هغو ذکر په يو وخت د اسلامي تاريخ هم په يوۀ وخت انتهائي تاريک او انتهائي روښانه او ځلنده باب دے. کۀ د عبدالملک او د هغۀ د خودساخته اشراف عرب جذبات کۀ هر څۀ وو تر څو به ئې د عوامو عقائدو او جذباتو سره مقابله کوله. (تدوين حديث ص ۱۳۷ ـ ۱۳۹ او الرق في الاسلام) کۀ هر څو اموي بادشاهان او د هغوي د قماش عاملان ئې له خپلو ناکردو نۀ منع کيدۀ خو مسلمانان د هغوي د بدعت مدافعت کولو نه هم نۀ منع کيدۀ. حضرت امام زين العابدينؒ خپل يو غلام آزاد کړ او خپله لور بي بي ئې ور وادۀ کړه او خپله وينځه ئې آزاده کړه او وادۀ ئې ورسره وکړو. عبدالملک چې خبر شو اور پرې ولګيد خکه چې په ټولو عربو او بيا خاص په قريشو کښې د بني هاشم نه زيات نزدې وروړ د بني اميه نۀ وۀ. نور ئې څۀ کولے شو يو خط ئې حضرت امام صاحبؒ ته واستاوۀ چې د هغوي د نسبي شرافت او نجابت ذکر او د نکاح په واقعې ئې پکښې اعتراض او طنز کړے وۀ. حضرت امام صاحبؒ چې ورته په ځواب کښې څۀ وليکل د غور ور دي. ارشاد ئې ورته وکړو چې "فقد کان لکم في رسول الله اسوة حسنة قد اعتق رسول الله ﷺ صفية بنت حي و تزوجها و اعتق زيد بن حارثه و زوجه ابنته عمته زينب بنت جحش" يعني يقيناً تاسو دپاره

پـه رسول الله ﷺ کښې ښکلې نمونه ده رسول الله ﷺ صفيهؓ بنت حي آزاده کړه او په نکاح ئـې کـړه زيد بن حارثهؓ ئې آزاد کړل او د خپلې ترور (د پلار د خور) لور زينب بنت جحش ئې ورته په نکاح کړه. (تدوين حديث)

عـکـرمـه يـو بربري النسل هلک د حصين بن الخير العنبري غلام وۀ د حضرت علي الـمـرتـضـي رضـي الله عـنـه په عهد خلافت کښې حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د بـصـري گـورنـر وۀ نـو حـصـين دغه غلام حضرت ابن عباسؓ ته ورکړو او هم هغوي ئې تربيت وکـړو. (غلامان اسلام ص ۸۴) او د فضل و کمال درجې ته ورسيد. چې د بني اميه دور وۀ او دوي يـعـنـې عکرمه بصرې ته لاړل نو د استقبال ئې دا حال وۀ چې "فـاجمع الناس عليه حتىٰ اصعد فوق ظهر بيت" يـعـنـې خـلـق ئـې ليدو لره رامات شول تر دې چې د کورونو په چتونو وختل. (تدوين حديث ص ۱۳۶)

مـنـصـور بن زاران يو بل غلام د خپل علم او فضل په وجه دومره عزتمند وۀ چې کوم وخـت پـه ۱۳۱ هـجـري کښـې وفـات شـو نو مسلمانان، يهود او نصارئ ئې يو شان په جنازه کښې شريک وو. (تدوين حديث ص ۱۳۴) او غلامان اسلام ص ۱۵۴)

عبـدالله بـن مبـارک يـو بـل غـلام د بنو عباس د عهد مشهور محدث تير شوے دے د هـارون الـرشـيـد زمانه وه. هارون الرشيد او ملکه ئې زبيده په رقه ښار کښې مقيم دي ملکې د مـحـل لـه يوې کمرې وکتل چې "ارتقت الغبرة و تقطت النعال" يعنې دوړې دي چې وچتيږي او پـنې دې چې شليږي. په پوښتنه ئې چې حال معلوم کړو چې عبدالله بن مبارک محدث ښار تـه راغـلـے دے او خـلـق ئـې هر کلي ته وتي دي نو بې اختياره ئې له خلې ووتل چې "هذا والله مـلـک لا مـلـک هارون الذي لا يجمع الناس الا بشرط و اعوان" يعنې په خدائے مې دې قسم وي بادشاهي خو دا ده نۀ د هارون چې ځان ته بې د پوليس او د هغو د ملازمانو له مدده خلق نۀ شـي راټولولے. (تدوين حديث ص ۱۳۶ او غلامان اسلام ص ۲۳۸) چې بادار ئې د خپلې لور وادۀ کـول وغوښتل نو له دۀ ورته زيات موزون سړے په زومتيا کښې د اخستو دپاره ښکاره نۀ شۀ. (غلامان اسلام ص ۲۳۱)

لـه ديو واقعاتو اندازه کيدے شي چې غلامانو ته د ترقۍ څومره مواقع حاصل وو او په حکومتي معاملاتو او په عامه معاشره کښې ئې څومره عمل دخل وۀ.

حـافظ ابن قيم صاحب فرمائي چې "فان السيد حقه في مالية العبد لا في انسانية" يعنې د مـالـک د خپـل غلام په ماليت کښې حق دے نۀ ئې په انسانيت کښې. انسانيت د غلام خپل دے او لـکه چې د هر چا نو هم دغسې د دۀ انسانيت هم د احترام وړ دے. د غلامانو د آزادولو

په باره کښې د احاديثو د نقل کولو نه پس قاضي شوکاني فرمائي چې "ولا خلاف ان معتق الرقبة الکافر مثاب علي العتق" يعني په دې کښې اختلاف نشته چې کۀ څوک کافر غلام آزاد کړي نو هم به ثواب مومي. او حضرت امام مالک صاحبؒ فرمائي چې "ولا باس ان يعتق النصراني واليهودي والمجوس نظوعاً" يعني او په دې کښې هيڅ حرج نشته کۀ نصراني، يهودي يا مجوسي غلام د ثواب دپاره آزاد کړے شي. (الرق في الاسلام)

او آيا د کوم بل قام تاريخ داسې مثال پيش کولے شي چې د غلامانو بادشاهانو خاندانونه پکښې تير وي. د هندوستان د اسلامي عهد په تاريخ کښې د "خاندان غلامان" دور له چا پټ دے؟ په دې کښې داسې قابل، عظيم او طاقتور فرمانروا لکه قطب الدين ايبک، التمش او بلبن او سلطانه رضيه تير شوي دي. بل خاندان د غلامانو بادشاهانو د مصر د مملوکو وۀ چې د سلطان بيبرس غوندې عظيم حکمران هم دوی کښې تير دے. او د غلامانو دا اثر، نفوذ او اقتدار د احرارو برخلاف لکه د رومائے غربي د غلامانو د خپلو واکمنو برخلاف د سپارټيکس د قيادت لاندې د بغاوت نتيجه نۀ وه. سپارټيکس او د هغۀ ډلې خو له جوليئس سيزره ماتې خوړلے وه او بغاوت ناکامه شوے وۀ او په اسلامي عهد کښې د غلامانو دغه اقتدار او حکومتونه د آزادو په رضا، ملګرتيا او مرسته وو. او دا بادشاهان څۀ دي د خلفائے راشدين رضوان الله عليهم اجمعين نه پس کوم امير سلطان يا بادشاه تير دے چې د حضرت بلال حبشيؓ، حضرت زيدؓ، حضرت صهيب روميؓ، حضرت سلمان فارسيؓ، حضرت سالمؓ او حضرت عمار رضوان الله عليهم اجمعين د پښو ګرد ته هم رسيدلے وي. او د دوئ د غلامې د حلقې نه ئې ځان بهر ګڼلے او د خدائے په مخکښې به ئې د مخ روڼې او له عتابه او عذابه به ئې د آزاد تلو طمع لرلے وي. د شمع رسالت ﷺ دغه پتنګان د معاشرې په اصطلاح کښې هم غلامان بلل کيدل خو د امت محمديه او ملت ابراهيميه هر يو فرد ئې کۀ امير دے کۀ سلطان او کۀ بادشاه دے کۀ ما سوا خپل سرداران او باداران ګڼي.

لکه چې ما په تير موضوع بحث د يوې هندوې ميرمنې په وينا راتول کړے دے نو دا بحث هم د يوې بلې هندوې ميرمنې شريمتي راجکماري مادهورې بي اے او د يو هندو بناغلي ټهاکر جے آر رائ صاحب په ويناګانو راټولوم. ميرمن مادهورې وائي چې "د غلامې دنيا او شهنشاهي ختمول او مساوات قائمول او د انساني دنيا نيمه آبادي يعني د ښځو فرقه د ذات او غلامې له څمڅټې راويستل او د سرو سره څنګ په څنګ کښينول د اسلام داسې څرګندې کارنامې دي چې تمدن به پرې تر عمرونو ناز کوي." او ستائيلے ټهاکر صاحب وائي چې "په مسلمانانو کښې د اعلیٰ او ادنیٰ فرق نشته اسلامي وررولي يو حقيقت دے

خیالي خبره نهٔ ده. د آنحضرت ﷺ لور بي بي فاطمهٔ خپلو وینځو سره ناسته میچن به ئې چورلوله. د آنحضرت ﷺ جانشین خلیفه عمرؓ به خپل غلام په اوښ سور کړے اوښ به ئې له مهاره نیولے بوتلو. آنحضرت ﷺ غلامانو سره د ورورولۍ د سلوک ارشاد کړے دے چې "څهٔ پخپله خورئ پـه دوي ئې هم خوروئ هم هغه ورته اغوندوئ چې پخپله ئې اغوندئ.. مسلمانان د یو بل ورونه دي تاسو سره برابر یاست یوه ورورې یاست." (رساله پیشوا دهلي رسول نمبر کال ۱۹۲۹ ء ص ۱۶۷ او ۱۷۰)

ورومبے د دې نه چې عموماً د هغو خلقو چې اقتصادي حالت ئې کمزورې او خراب او ژوندانهٔ لـه اکثرو ضـروریاتو مـحروم دي په حقله د اسلام تعلیمات وخیرو باید چې په تـعلیماتو ئـې د یـوې بـلـې خاصـې ډلې په باره کښې هم غور وکړو چې یا خو د ژوند دغه ضـروریات هـډو لري نه او که لري ئې هم د هغې وسیلې نه محروم دي چې دغه ضروریات او ذریعې ئـې پـکار راولي او په مخ د بنهٔ ژوند تیرولو دپاره ئې وروزي. دغه د یتیمانو ډله ده. د دغـه کـمزورې ډلې که مال دولت ئې وي نو د دوي د کمزورتیا، بې یارۍ، بې مددګارۍ، بې کسي او ناچارۍ له قبله ئې ترې ظالم خلق اغم دغم کړي او وې خوري. د کمزورو او بیکسو بیـوسـو د دغـې ډلـې په حقله ډیر ځله هدایات د هغو سره یو ځائے راغلي دي چې د ناداري او خوارۍ غریبۍ ذکر ئې په عموم شوے دے.

یتیم پـه اسـلامـي معاشره کښې علاوه د هغهٔ د خپل د همدردۍ او زړهٔ سواندۍ د وړ حالـت دي دپـاره هـم د خـاصـې توجه حق لري چې زمونږ هادي برحق ﷺ هم یتیم وهٔ والد مـاجد ئې سیدنا حضرت عبدالله د آنحضرت ﷺ د ولادت باسعادت نه ورومبے حق رسیدلے وو. د شپږو کالو وو چې مور بي بي ئې سیده حضرت آمنه حق ورسیدله او حضور پرنور ﷺ د اتـو کـالو په عمر کښې ئې نیکهٔ صاحب جناب عبدالمطلب هم وفات شول کهٔ په دې کښې یـو خـوا د الله جـل شـانـه دا حـکـمت او منشا وه چې د هغهٔ محبوب، مقبول او برگزیده رسول ﷺ په تربیت کښې دې د انسان دخل نهٔ وي او هم رب العٰلمین دې ئې پخپله تربیت کونکے وي نـو ګـونـدې دغـه حـکـمـت او غایت ئې هم پکښې مضمر وي چې په هغه دین او شریعت کښـې چـې هغه مبارک علیه الصلوٰة والسلام ورسره مبعوث کیدونکي وو او شول یتیم دې د خاص مقام حقدار او په منونکو کښې ئې دې د خاص پام مرکز وي. پخپله رسول مقبول ﷺ ته او د هغوي په واسطه ئې امت ته د الله جل شانه ارشاد دے:

"اَلَمۡ یَجِدۡكَ یَتِیۡمًا فَاٰوٰی () وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰی () وَ وَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغۡنٰی () فَاَمَّا الۡیَتِیۡمَ فَلَا تَقۡهَرۡ () وَ اَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ () وَ اَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ () " (الضحیٰ ۹۳: ۶ : ۱۰)

ترجمه: نهٔ بیاموندلے (ستا رب) تهٔ یتیم چې در ئې کړه پناه، او وے موندلے لټونکے (د لارې) نو در وې ښئیله (لار) او وې موندلے نیستمن نو کړے ئې شتهٔ من نو بس چې ونهٔ کړے قهر په یتیم او چې ونهٔ رټے سوالي، او نو بیانوه مهرباني د خپل رب.

او تاسو وړومبے وخیرل چې په سورهٔ بلد ۹۰ کښې چې د انسانیت او اخلاقو په لوړ مقام د قائمیدلو ذکر دے نو یوه زینه ئې "د غاړې خلاصول" د غلامانو ازادول دي. ورسره څو نورې زینې هم یادې شوې دي. ارشاد دے:

"... فَكُّ رَقَبَةٍ () اَوْ اِطْعٰمٌ فِيْ يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ () يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ () اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ () ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ تَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَ تَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ () " (سورهٔ بلد ۹۰: ۱۳ـ۱۷)

ترجمه: .... دغاړې خلاصول او د لوږې په ورځ مړول د خپلوان یتیم او د خوار په خاورو لړلي بیا چې (سرے) له هغه کسانو څنې وي چې ایمان ئې راوړ او سره تاکید ئې وکړ د صبر او سره تاکید ئې وکړ د زړهٔ سواندی.

د غلامانو د احسان په بحث کښې چې تاسو د سورهٔ نسآء ۴: ۳۶ کوم آیت مبارک "وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَ لَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّ بِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ " ولوست په هغهٔ کښې د خپلوانو ذکر له یتیمانو علاوه شوے دے او یتیمانو سره د قرابت دار (خپلوان) خصوصیت نشته او نورو ځایونو کښې هم بې له دې خصوصیته هم یتیمانو، مسکینانو او نورو مستحقینو سره د ښیګړې ارشاد شوے دے. نو دلته د "یتیما ذا مقربه" یو مطلب خو دا هم کیدے شي چې یتیم او بیا خصوصاً چې خپل هم وي. خو د "مسکیناً ذا متربة" به څهٔ معنيٰ کوؤ؟ آیا دا چې هر مسکین خصوصاً هغه چې په خاورو لړلے وي؟ یا خصوصاً هغه چې د خوارۍ شدت په خاورو کښې لوغړولے وي؟ ظاهره ده چې هرکله یتیم او مسکین او بل مستحق سره د هغهٔ د تکلیف او ضرورت لرې کولو دپاره ښیګړه او امداد د مسلمان وظیفه ده او د انساني صحیح فطرت او همدردی غوښتنه هم چې کوم ځائے دغه مستحقین خپلوان هم وي او ضرورت ئې هم شدید وي نو باید چې د دغه وظیفې شعور او د دغې همدردۍ او د فطرت د غوښتنې احساس هم زیات وي. خو آیا د ژوند د ضروریاتو او وسائلو نه د محرومۍ نتیجه په خاورو کښې د لوغړیدلو مترادفه نهٔ ده. آیا د سحر نه تر غرمې او له غرمیه تر نماښامه د ټوک روټۍ او چوک نګلولي په فکر کښې وخت تیرول په اوړې کښې د پردې دیوال سیورے لټول او په ژمي کښې د چا د دکان د نغرۍ تودو ایرو ته لاس نیول او ورنږدې د ملاستې هڅه کول په خاورو کښې لوغړیدل نهٔ دي نو څهٔ دي. آیا چې د چا دپاره صرف صبر او رحم کول نه بلکې یو تر بله د صبر او رحم تاکید کول وظیفه وټاکل

شـول نـو هـغـهٔ تـه بـه د هـغـه انسان حالت څنګه ښکاري چې د ژوند د ضروریاتو او وسائلو نه محروم او په تنګسه عمر تیرونکے دے. کهٔ د هر انسان حال چې د معیشت د ذریعو نه محروم دے د دهٔ پـه زړهٔ کښې داسـې سوز او درد پیدا کوي چې هغه ورته په خاورو کښې لوغړیدلے ښکـاري نـو هم دغه شان هر یتیم هلک یا جینۍ به ورته هم خپل زوے او وررو یا لور او خور ښکـاري. یتیـمان د ټولې اسلامي معاشرې غړي د هر مسلمان خپلوان دي چې د نګرانۍ ذمه واري ئې معاشرې ته سپارلې شوې ده. او هر کله چې د یتیمانو او مسکینانو او نورو مستحقینو امـداد بـلـکې هـره نیـکي او صـالح عمل د خپلو خواهشاتو، عیش آرام او خوشحالۍ قرباني غـوارې نو دې دپاره د اهل ایمان شان دا بیان شوے دے چې هغوي پخپله صبر کونکي نورو ته د صبر تاکید کونکي پخپله رحمدل او له نورو رحمدل جوړونکي دي. په محرومینو د رحم دپاره او د حرمان ئې لرې کولو لره د رحمت سره د قرباني او قربانۍ دپاره د صبر ضرورت دے.

اوس بـه هـم پـه دغـه ضـمن کښې د قرآن کریم د الفاظو له رویه یو وړوکے خو لکه د قـرآن د هـر یـوهٔ آیـت او سـورت ئې په معنو لوے په حقائقو پُر او په صداقتونو معمور سورت وخیرو. ارشاد دے:

"اَرَءَیْتَ الَّذِیْ یُکَذِّبُ بِالدِّیْنِ () فَذٰلِكَ الَّذِیْ یَدُعُّ الْیَتِیْمَ () وَ لَا یَحُضُّ عَلٰی طَعَامِ الْمِسْکِیْنِ () فَوَیْلٌ لِّلْمُصَلِّیْنَ () الَّذِیْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ () الَّذِیْنَ هُمْ یُرَآءُوْنَ () وَ یَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ()" (ماعون ۱۰۷)

ترجمه آیا تا هغه کس لیدلے دے چې دین دروغوي نو دا هم هغه کس دے چې یتیم لره دیکې ورکوي او مسکین لره د طعام (د ورکړو) ترغیب نهٔ کوي نو افسوس دے چې په هغو نـمونځ ګزارو چې له خپله مانځهٔ غافلان دي. هغه کسان چې ښنینه کړي او د ورتاوولو شیان منع کوي.

یعنـې هـغـه سـړے چې یـو خوا د دین (۱) اسلام (۲) احکام الٰهیه یا (۳) د آخرت د مـرګ نـه پس د ژوندانهٔ او د الله تبارک و تعالیٰ په مخکښې د خپلو عقائدو او اعمالو دپاره د ځـواب دهـی او د جـزا او سـزا د منلـو دعـویـدار دے او بـل خوا یتیم دیکې او لوغړوي او د خـوارانـو له لوږې بې پروا دے. د هغوي د ګرانو سختو ورته هیڅ غم نشته. نهٔ خو ورته پخپله څهٔ ورکـوي او نـهٔ نـور ورلـه په څهٔ ورکولو نغوتې اوګماري. نو دا سړے په خلهٔ هر څو د دین مـنـونـکے وي (او کـهٔ پـه زړهٔ کښـې ګـنې هم چې ئې مني) په خپل عمل ترې اوړیدونکے او دغسې دروغـونـے دے نـو لـه دې قبله ګویا هم د هغه سړي په شان شو چې هډو د دین قائل نهٔ دے. او هم دغه شان د هغو نمونځ ګزارو حال هم د افسوس دے چې له خپله مانځهٔ غافله دي.

هغه کسان چې د ښيئنې دپاره نمونځ کوي او په کار راتلونکي شيان له نورو ژغوري. د چا په ښه نۀ راځي او د خير خيرات، د رفاه عامه په کارونو کښې ارکه وي. له نمانځۀ ذ غفلت مطلب خو يو ئې له ارکانو اوقاتو او التزام غفلت دے او يو ئې له روحه او مقصده غفلت دے.
او دلته تري اګر کۀ دواړه مطلبه اخستل کيدے شي خو له سياقه او سباقه هم دغه ظاهريږي چې د نمونځ په روح مقصد او غايت زور اچول تري مفهوم او مقصود دي. نو د دې سورت مبارک خلاصه مطلب دا شو چې دين د ښو خبرو نامه نۀ ده بلکې يو مقصدي او عظيم قلبي کيفيت او عملي پروګرام دے. دين الله سره د تعلق د هغۀ په مخکښې د خپلو عقائدو او اعمالو دپاره د ځوابدهي د احساس او ذمه وارى او دغه احساس او ذمه وارى سره سم د عمل کولو نوم دے. او هغه سړے چې د خدائے کمزوري او محتاجه مخلوق سره سختي کوي، ظلم جور پرې روا لري او د هغۀ د تکاليفو او مصيبتونو د لرې کولو دپاره زيار نۀ کاږي دغه سړے په صحيح معنو کښې د خدائے تعالىٰ په مخکښې د ودريدو ويره نۀ لري او زيرمه ئې نۀ کوي. يتيم له ديکې ورکول څۀ هم دا نۀ دي چې ځوک خپره پرانزي د يتيم په شا يا ګوګل ئې ورګزار کړي او تيله ئې کړي بلکې له داسې حالاتو ځان او نور ژغورل چې د هغۀ تکليفونه پرېلرې شي او داسې حالات پيدا کول چې پرې زيات شي او دغه شان هغه در په در او کوڅه په کوڅه ګرځول هم هغۀ لره ديکې ورکول دي. او بيا وګورئ "ولا يحض" ترغيب نۀ ورکوي. دلته ئې بيا د کمزورو او خوارو غريبو په حقله ئې د اسلامي معاشرې ذمه وارې ښنيلې ده. او بيا ارشاد دے چې نمونځونه کول او د خدائے له مخلوقه بې پرواهي او بې نيازي د نمونځ ظاهر خو لري خو باطن او روح ئې نشته. او دغسې نمونځ د خدائے تعالىٰ د رضا او محبت دپاره او هغۀ سره تعلق قائمولو لره نه بلکې د خلقو ښنيني لره وي.

پاتې شو هغه يتيمان هلکان يا جينکۍ چې مال دولت يا جائيداد ورپاتې وي نو قرآن حکيم د دوي د مال حال په ډير ښۀ شان پالنې، ساتنې او نګرانۍ په ډير تاکيد هدايت او په ناحقه او ناجائزه طريقه د دوي د مال خوړلو په ډيرو زوردارو الفاظو ممانعت کوي. په دې لړ کښې يو څو ارشادات دي:

"يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ وَ اِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ وَ لَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ () " (البقرة ۲: ۲۲۰)

ترجمه: او تا له يتيمانو پوښتې وايه چې د دوي (کاروبار او حال احوال) سمول ښيګړه ده او کۀ تاسو له دوي ګډون کړئ نو ستاسو ورونه دي. او الله ورانکاري او سمکاري پيژني، او کۀ الله غوښتۀ نو تاسو به ئې په ګرانه کښې اچولي وئ تحقيق الله غالب او حکيم دے.

مالک رام په آيت مبارک تبصره کونکے وائي چي "له اوله ئي وفرمائيل چي د يتيمانو په حقله د څهٔ خاص قانون او اصول قائمولو ضرورت نشته. هر وګړے پخپله غور کولے او فيصله کولے شي چي د هغوي په حقله به څهٔ کول ښهٔ وي. د دوي ځان، د دوي مال د دوي اخلاق د دوي تعليم وغيره ټولي خبري، کومه يوه هم چي د دوي دپاره ښه وي بايد چي وکړل شي. ولي چي څهٔ رنګ د خپل اولاد په حقله د فيصلي کولو په وخت د دوي ښيګړه او فائده د نظر د وړاندي ساتي پام ورته کوي او د عملي کولو دپاره ئي زيار کاږي نو هم دغسي پري د يتيمانو حق دے.

بيا ارشاد دے چي دا مهٔ ګڼئ چي څهٔ تاسو کړئ دا هم يوازي د دوي د ښو او فائدي دپاره دي بلکي دا به تاسو لره هم د خير او برکت باعث وي ځکه چي هم دغه يتيمان به ستريږي او د قام غړي به جوړيږي. کهٔ نن د دوي په وړو کوالي د دوي د ښودني او روزني لکه چي بايد خيال ونهٔ ساتلے شو نو ګانده به په خپلي بد اخلاقي ګرد قام وشرموي. که نن د ولي د غفلت له قبله د دوي مالونه ورک شول نو چي لوے شي نو د نتيجي په طور به ئي نشتمن وي. او د ګرد خاندان او قام د بدنامي سبب به شي.

"د دي علاج دا دے چي دوي سره ګډون کړئ چي په هر حال ستاسو ورونه دي تاسو لره نهٔ ښائي چي غير ئي وګڼئ. او سپک نظر ورته وکړئ ستاسو فرض دي چي دوي په خپلو کورونو کښي وساتئ دوي سره دي په ګډون کښي د هيڅ قسمه فرق ونهٔ لرلے شي. هسي نه چي په زړونو ئي تير شي چي مونږ بي موره بي پلاره يُو ځنګه چي دوي سره په ګډون کښي فرق لرل نقصاني دي نو هم دغه شان د دوي مال هم بيکاره مهٔ خوندي کوئ. هغه هم د خپله ماله سره ګډ کړئ. چي ستاسو مال سره د هغوي مال هم زياتيږي او چي بالغ شي چي بل چا وته محتاجه نهٔ وي او چي د خپله ماله او دولته سره د خاندان او قام د طاقت او عظمت سبب وګرځي...

ښـي خلق يتيمان په خپلو کورونو کښي دي لره وساتي چي د هغوي مال وخوري او له کمزوري ئي ناجائزه فائده واخلي. داسي خلق ويرولے شوي چي کيدے شي چي تاسو نورو خلقو له خو دوکه ورکړئ چي يتيمان مو په کورونو کښي ساتلي دي او د دوي د پالني او روزني خرڅونه کړو او دغسي په يتيمانو او د دوي د کورني په نورو خلقو ډير احسان کړو خو تاسو خدائے نهٔ شئ دوکه کولے. هغه خبر دے چي ستا غرض د يتيمانو له پرورشه زيات د خپل نفس پرورش دے نو خبر شئ چي هغه عزيز هم دے او حکيم هم.

له ټولو په اخره اشاره ده چي کهٔ چري ستاسو نيتونه ښهٔ وي او په واقع کښي تاسو د

يتيم د اصلاح او د هغۀ د اخلاقو درستي او د مالونو د حفاظت دپاره هغۀ په خپلې سرپرستي کښې اخلي نو بيا خو بايد چې نۀ د دنيا د لعنت ملامت پروا کړئ نۀ له خپلو کمزورو او نۀ د الله له طرفه د مقرر شوؤ پابندو ويريږئ. چې تر ننه يتيمانو سره کومه ناانصافي شوې ده د هغې تقاضا خو دا وه چې د دوي په باره کښې سخت احکام او قوانين نافذ کړلے شوے وے خو الله تعالیٰ تاسو لره گرانه نۀ خوښوي. صرف دومره حکم کوي چې تاسو د خپل استعداد او عقل سره سم چې څۀ د هغوي دپاره ښۀ گڼئ عملي کوي ئې او په روغ نيت د دوي اصلاح او تربيت کړئ. الله تعالیٰ به په دغه کار کښې برکت اچوي او ستاسو د بې اختياره غلطو دپاره به تاسو نۀ پوښتي." عورت اور اسلامي تعليم ص ۳۱ ـ ۳۴)

د دنيا د لعنت ملامت د پروا نۀ کولو له خپلو کمزورو او د خدائے له طرفه له عائدو شوؤ پابندو نه د ويريدو مطلب دا دے هسې نه چې د خلقو د څائے بې ځايه انتقاد او نکته چينې او د خدائے تعالیٰ د باز پرس له ويرې د يتيمانو د پالنې او روزنې او د دوي د مالونو د حفاظت د ذمه وارۍ قبلولو نه وغربيږئ. يا ډډه ترې وکړئ.

"وَاٰتُوا الْيَتٰمٰى اَمْوَالَهُمْ وَ لَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ وَ لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ()" (النسآء ۴: ۲)

ترجمه: او د يتيمانو مالونه (په ايمانداری) دوي ته سپارئ او ښۀ څيز په بد مۀ بدلوئ او نۀ د دوي مالونه خپلو مالونو سره گډ کړي خورئ تحقيق دا ډيره لويه گناه ده.

"وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّ بِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا الخ" (النسآء ۴: ۶)

ترجمه: او د يتيمانو ازميښت کوئ تر دې چې د نکاح تر عمره ورسي بيا کۀ پکښې صلاحيت بياموئ نو مالونه ئې ور وسپارئ او د دې دپاره ئې په زياتي زر زر مۀ خورئ چې به لوئے شي نو غواړي به ئ.

"اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ؕ وَ سَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا" (النسآء ۴: ۱۰)

ترجمه: کوم خلق چې په ظلم د يتيمانو مالونه خوري يقيناً په خپلو خيټو کښې انګارونه نغري او زر به په دوزخ ورننوځي.

د يتيمانو د مالونو په حقله د قرآني احکامو د اقتباس نه پس چې مالک رام په هغو کوم بحث کوي د هغۀ په اخر کښې وائي چې:

د يتيمانو د مالونو په باب چې کوم قرآني احکام بيان شول په دغو کښې هر ځائے د

جـمع مخاطب صيغه استعمال شوي ده چي ترې معلوميږي چې د دوي غرض او غايت دا دے چې د يتيم او د ده د جائيداد ذمه واري د ټول خاندان او قام په سر ده چي قدرتاً هم د وخت د حكومت په اجازت سنبالولے كيدے شي. كۀ سركاري طور سره د دې فرض تر سره رسولو دپاره كورټ او وارډز وغيره مقرر كړے شي نو په دې كښې هم هيڅ حرج نشته. خو په شرط د دې چې دغه شان د يتيم نشوونما، د دهٔ د تعليم تربيت او ذهني او اخلاقي ترقي كار په ښهٔ شان كيدونے وي او كهٔ د كورټ او وارډز له طرفه هم د يتيم څوک نزدې خپلوان د دهٔ سرپرست او ولي مقرر كړے شي نو نور به هم ښهٔ وي. ځكه چې داسې به د تعلق خاطر په وجه هغه خپل كار زيات په دلچسپي او سرګرمي كړي." (عورت اور اسلامي تعليم ص ۴)

[هر كله چې د يتيم لفظ په هلک او جينۍ دواړو باندې شان حاوي كيږي او د يتيم په حقله د قرآن حكيم احكام د نارينه او ښځينه دواړو دپاره يو شان رحمت دي نو مالک رام له دې قبله د يتيم په حقله موضوع د خپل كتاب (عورت او اسلامي تعليم) يوه برخه ګڼلې او ګرځولې ده.]

د يتيمانو په باب چې وړومبے كوم مبارک آيتونه نقل كړل شول په هغو كښې د يتيم سره د سائل او مسكين ذكر او ورسره د احسان مهرباني او امداد كولو بيان يو ځائے راغي. او ترې په ښهٔ شان اندازه كيدے شي چې هغه كسان چې له يوې او يا بلې وجې د ژوندانهٔ وسيلې او ذريعې نهٔ لري او له ضرورياتو نې محروم دي د هغو دپاره د دغو وسيلو او ذريعو په مهيا كولو او د هغوي د ضرورياتو په پوره كولو قرآن څومره زور اچوي. د كومو عملونو چې په التزام كول د مسلمان د ژوند وظيفه ده د هغو په باره كښې چې كوم احكام په قرآن پاک كښې راغلي دي په هغو كښې د نمانځهٔ نه پس د انفاق في سبيل الله يعني د خدائے په لاره كښې د مال خرڅ كولو (چې په مختلفو طريقو كښې ئې زكوٰة فرض دے) په حقله د آيتونو تعداد له نورو ټولو زيات دے. خو مونږ يو خو چې څهٔ تاسو وړومبے ولوستل هغه د نظر وړاندې او بل د اختصار له مخه په يو څو مباركو نمونو راوړلو اكتفا كوو.

په سورهٔ فاتحه كښې د الله تبارک و تعالیٰ د حمد او ثنائے جميل، د هغهٔ د توحيد د اعتراف او اقرار او هغهٔ سره د عهد كولو نه پس چې مونږ به هم د الله عبادت كوو او هم د هغهٔ نه به مدد غواړو مونږ د هغهٔ نه د هدايت خواست كوو. سوال ترې كوو چې مونږ ته دې سمه لار وښيي. نو ورپسې جخت د سورهٔ بقره په شروع كښې فرمائيلے كيږي چې سمې لارې ته د رسولو پرې د بوتللو او منزل مقصود ته د رسولو وسيله او ذريعه د هدايت آئين او دستور دغه كتاب قرآن حكيم دے. خو له دغه عظيم كتابه هم تقوىٰ دار فائده اخستے شي. او عقائدو سره چې د تقوىٰ كوم فرائض تاكلي شوي دي په هغو كښې له هغهٔ څهٔ چې الله تعالیٰ ورلره

ورکړي دي خرڅ کول دي. "وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ" (۲:۳) يوۀ مسلمان لره نۀ صرف د هغه مال چې د خپلو او د خپل اهل وعيال د ضرورياتو پوره کولو دپاره د مال نه ئې زياتي وي د خدائے په مينه خرڅ کول ضروري دي. "وَيَسْـَٔلُوْنَكَ مَا ذَا يُنْفِقُوْنَ () قُلِ الْعَفْوَ" (بقره ۲: ۲۱۹) بلکې د انفاق (خرڅ) په وخت د دغې خبرې خيال ساتل هم ضروري دي چې څۀ خرڅ کړل کيږي هغه خراب او ناقص نه بلکې غوره او قدرمن څيز دے. هغه څۀ چې د خرڅ کونکي زړۀ ته نزدې دے. "لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ" (آل عمران ۳: ۹۲) او دغه خرڅ به لکه چې تاسو له ديه وړومبے په اسلام کښې د غلامانو د حيثيت په حقله بحث کښې ولوستل د فقراؤ، مسکينانو، د خرڅ کيدونکي مال د وصولونکو، د اسلام د تبليغ، د غلامانو د غاړې او قرضدارو خلاصولو، د غازيانو او د مسافرو د امداد او ضرورياتو پوره کولو دپاره کيږي. (توبه ۹: ۶) لکه چې د آيت له مضمونه ښکاري دلته د هغه مال د خرڅ کولو ذکر دے چې په وصولۍ ئې عهده داران عاملان مقرر وي. چې د وصولۍ اختيار ئې حکومت ته دے او کۀ اسلامي حکومت نۀ وي نو د معاشرې له طرفه ئې په اجتماعي شکل کښې انتظام ضروري دے او دغه ادائيګي لکه چې وضاحت شوے دے "فريضة من الله والله عليم حکيم" فرض ده او لکه چې قرآن پاک نوملې ده د شريعت په اصطلاح کښې زکوٰة بللے شي. له زکوٰته علاوه نورې مقررې ادائيګۍ هم شته مثلاً عشر، خمس، ضرائب وغيرها چې بايد د نوعيت او تفصيل معلومولو او حاصلولو دپاره ئې د مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم کتاب "اسلام کا اقتصادي نظام" (د اسلام اقتصادي نظام) ص ۱۰۷ - ۱۳۰) ته رجوع وشي. سره د ديو مقررو ادائيګو اسلام د خدائے په مينه د حاجت مندو د ضرورتونو د پوره کولو او د خير کارونو سر ته رسولو دپاره د مال د خرڅ تلقين او ارشاد کړے دے او هر کله ئې چې دغه خرڅ د انسانيت لوړ مقام سره سم بللے او دغه مقام ته رسيدلے ئې د خدائے په فضل او کرم د عظيمې جزا وړ ګڼلے دے او خوش خبرې ورله ورکړے شوے ده نو هغو کسانو لره په قرآن حکيم کښې سخته تنبيه او وعيد دے چې څوک ئې پروا نۀ کړي. يا ترې ځان ژغوري. حضرت رسول مقبول عليه الصلوٰة والسلام ته حق تعالیٰ فرمائي چې "هغه کسان چې سرۀ سپين ټولوي او د خدائے په لاره کښې ئې نۀ خرڅ کوي هغو لره د دردېدونکي عذاب خبردارے ورکړه. کومه ورځ به چې د دوزخ په اور کښې هم دغه سرۀ او سپين ګرم کړے شي او د دوي تندي، اړخونه او شاګاني به پرې داغلے شي. (او ورته به ونيلے شي چې) دا دي هغه څۀ چې ځانونو لره مو ټول کړل (نو) اوس د هغه څيز چې مو ټولول خوند واخلئ.

"وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَ لَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ () يَّوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَ جُنُوْبُهُمْ وَ ظُهُوْرُهُمْ ط هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ()" (توبه ۹: ۳۴،۳۵)

او له دوزخيانو به چې جنتيان د هغوي د حالت سبب وپوښتي نو هغوي به ورته وائي چې "مونږ له نمونځ گزارو نهٔ وو مسکين مو نهٔ مړولو او بحث کونکو سره به په بحث لگيا وو (په خائے د حق د قبلولو مو تړي د خپلو خبرو په ذريعه د طبع آزمايي موضوع او يوه مشغله جوړه کړې وه) او د جزا او سزا ورځ مو دروغوله تر دې چې مرگ راله راغلو. "مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ () قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ () وَ لَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ () وَ كُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ () وَ كُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ () حَتّٰى اَتٰنَا الْيَقِيْنُ ()" (المدثر ۷۴: ۴۲-۴۷) [وگورئ سورة ماعون او مطالب ئې.]

اسلام چې د دولت د ويش په حقله کوم انقلابي او انسانيت پرور تعليمات ورکړي دي د هغو له رويه له شته منو د ورکړې په سبب په نشتمنو هيڅ منت نشته بلکې په دغې ورکړې د هغوي حق ادا کوي لکه چې ارشاد دے چې "وَ اٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَ ابْنَ السَّبِيْلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا" (بني اسرآئيل ۱۷: ۲۶) يعني او خپلوان، مسکين او مسافر لره خپل حق ورکړه او فضول خرڅې مهٔ کوه." او د جنتيانو په اوصافو کښې ئې يو وصف دا هم بيان شوے دے چې "وَ فِيْ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ." (الذّٰريٰت ۵۱: ۱۹) يعني او د هغوي په مالونو کښې د سائل او محروم حق وهٔ.

مولانا حفظ الرحمٰن صاحب مرحوم په خپل کتاب "اسلام کا اقتصادي نظام" کښې يوه اهمه مسئله دا پورته کړې ده چې آيا... د مقرره ادائيگو لکه زکوٰة، عشر او خراج د ورکولو نه پس په مال نور حقوق واجبه هم شته کهٔ نه؟ او فرمائي چې "اگر کهٔ څنو عالمانو د دغه سوال ځواب په نفي کښې ورکړے دے خو دا د دوي د فکر او تدبر د کمې نتيجه ده او د دې دپاره د محققو عالمانو مسلک هم دا پاتې شوے دے چې د زکوٰة نه علاوه په مال نور حقوق واجبه هم شته او د دوي وجوب تر دې حده اهم دے چې کهٔ څوک تړې گريز کوي نو بې تامله ئې امام په ادائيگۍ مجبورولے شي. (ص ۳۴۶)

بيا فرمائي "چې د مغرب (اندلس) مشهور محدث او فقيه ابو محمد بن حزم چې څنو عالمانو د پينځم قرن مجدد گڼلے دے په دغې مسئله ډير کافي شافي بحث کړے دے بلکې په نفقات نوافل او فرائض بحث کونکے په مختصرو الفاظو کښې ئې د قرآن حکيم او احاديث رسول ﷺ په رڼا کښې د اسلام د معاشي نظام داسې نقشه پيش کړې ده چې د ترقۍ د

موجوده دور د مقبولو اقتصادي نظامونو د دقیقیو عملي بحثونو نه نظر اړولے د دوي عملي ثمرې او نتیجې او د عملي اړخونو موقفونه له دې نقشې بنهٔ معاشي نظام پیش کولو نه عاجز دي." (ایضاً) په دې لړ کښې چې ستائیلي مولانا مرحوم د علامه ابن حزم کومه طویله مقاله رانقل کړې ده زهٔ له هغې صرف په یو څو اقتباسانو اکتفا کوم:

"او د هر یوهٔ ښار د دولت مندو خلقو فرض دے چې هغوي دې د فقراؤ اوحاجت منو د حاجتونو پوره کولو بند بنا وکړي. او کهٔ نهٔ کړي نو خلیفه او امام هغوي د دغه فرض په ادا کولو مجبوروولے شي او کهٔ زکوٰة او فے (د بیت المال مالونه) د هغو د ضروریاتو پوره کولو لره بس نهٔ وي نو په داسې حال کښې د هغوي د ضروریاتو پوره کولو دپاره ارومرو باید چې د ژوندانهٔ ژغورنې لره ئې خوراک څښناک، په دوبي او ژمي کښې موسم سره سمې ختې او د استوګې کور هر یوهٔ وکړي لره مهیا کړے شي چې له باراناه، غارمهٔ تاؤ او سیلابه ئې بچ ساتي." د دې نه پس علامه موصوف د خپل قول په تائید کښې د قرآن حکیم له هغو آیتونو چې مونږ وړومبے نقل کړي دې څنې راوړي او بیا فرمائي چې "دلته الله تعالیٰ د مسکین د خوراک څښناک کفالت د نمانځهٔ وصیت سره یو ځائے کولو نه پس بیان فرمائیلے دے او د نبي اکرم ﷺ نه په غایت صحت په ډیرو طریقو روایت منقول دے چې فرمائیلي ئې دي چې "من لا یرحم الناس لا یرحمه الله" یعنې چې په انسان رحم نهٔ کوي الله به پرې رحم نهٔ فرمائي. ... ما لره عبدالله بن یوسف په سلسله د سند د حضرت ابوسعید خدريؓ دا حدیث بیان کړو "ان رسول الله ﷺ قال من کان معه الخ" یعنې رسول اکرم ﷺ ارشاد وکړو چې چا سره د ضرورت نه سوا سورلي وي باید چې هغهٔ لره ئې چې سورلي نهٔ لري ورکړي او چا سره چې د خپل اصل حاجت نه سوا د خوراک څښناک سامان وي باید چې هغه سړي لره ئې ورکړي چې د خوراک څښناک سامان نهٔ لري. حضرت ابوسعید ﷺ فرمائي چې آنحضرت ﷺ به بیل بیل اموال شمیرل هم دغسې به ئې فرمائیل تر دې چې مونږ وګڼل چې د حاجت نه په زیاتي مال زمونږ هیڅ حق نشته. او هغه د جماعت د هغو افرادو حق دے چې محتاجه دي.

او د سعید بن منصور په سلسله سند ماته د حضرت علي بن ابي طالبؓ دا روایت رارسیدلے دے چې "ان الله فرض علي الاغنیا" الخ یعنې بیشکه الله تعالیٰ په مالدارو او دولت منو د دومره مال ادائیګي فرض کړې ده چې دوي د فقراؤ او حاجتمنو ضروریات پوره کړي نو کهٔ خلق لوږه نهر او په تکلیف او کړاؤ اخته وي نو وجه ئې هم دا وي چې دولتمنو خپل فرض نهٔ دے ادا کړے او الله تعالیٰ حق لري چې له هغوي د دغې فرض نهٔ ادا کولو پوښتنه وکړي او عذاب ورکړي. او له ام المؤمنین حضرت عائشه، حسن بن علي ابن عمر رضي الله عنهم به چې چا

سوال وکړو نو هغوي به فرمائيل چې "ان کنت الخ" يعني کۀ تۀ په دې حال کښې سوال وکړے چې د دردناک قتل معامله وي يا د نۀ زغميدونکي تاوان او يا وژونکي فقر او لوږې نو په دولتمنو ستا حق فرض او واجب شو." (ايضاً ص ۳۴۷-۳۵۴)

حضرت ابن عباسؓ وائي چې حضرت رسول مقبول ﷺ له ټولو خلقو زيات سخي وۀ او خاص طور سره په رمضان کښې به ئې ډير زيات سخاوت فرمائيلو. ټول عمر ئې چرې د چا په سوال د نشته لفظ نۀ وۀ فرمائيلے. په بخاري شريف کښې ئې ارشاد دے "انما انا قاسم و خازن والله يعطي" يعني زۀ خو ويشونکے او خازن يم بخښونکے خو هم الله دے. يو ځل يوۀ سړي د آنحضرت ﷺ د بزو کنډک وليد چې تر لرې خور دے. هغۀ ترې سوال وکړو او هغۀ مبارک ﷺ ټولې ورو بخښلې خپلې قبيلې ته لاړ او ورته ئې ووې چې مسلمانان شئ محمد ﷺ داسې فياض دے چې د افلاس پروا نۀ لري. يوۀ ځل ترې يوۀ سړي څۀ وغوښتل ورځخه هغه وخت څۀ نۀ وو ورته ئې وفرمائيل چې له ما رادرومه حضرت عمرؓ په خدمت کښې حاضر وۀ عرض ئې وکړ چې تاسو څخه څۀ نشته نو کومه ذمه واري. يو بل صاحبؓ چې هم خدمت کښې حاضر وۀ عرض ئې وکړو د عرش له خدايه دا ويره مۀ کړئ چې تاسو به محتاجه کړي له ډيرې خوشحالي ئې مسکا وفرمائيله چې کوم څيز به دولت کدې مبارکې ته راغے چې تر څو به خرڅ نۀ شو ارام به ئې نۀ فرمائيلو او ناقلاره به وۀ. ام المؤمنين حضرت سلمهؓ بيان فرمائي چې يو ځل ئې کور ته تشريف راوړ نو په مخ مبارک ئې څۀ د پريشانۍ اثر وۀ ما عرض وکړو چې يا رسول الله خير خو دے وې فرمائيل چې پرون کوم اووۀ ديناره راغلي وو نماښام شو او په بستره پاتې شول. حضرت ابوذرؓ روايت کوي چې يوه شپه د آنحضرت ﷺ په خدمت کښې په لاره تلم هغو مبارکو ﷺ وفرمائيل چې ابوذرهؓ کۀ د احد غر ما لره سرۀ زر شي نو خوښه به کړم چې پس له دريو شپو يو دينار هم ما څخه پاتې شي بې له هغه چې د خپل قرض ادا کولو لره ئې پريږدم. کۀ په کور کښې به د نقدو له قسمه څۀ څيز وۀ نو چې ترڅو به ټول خيرات نۀ شو نو کور به ئې ارام نۀ فرمائيلو. يوۀ ځل د فدک رئيس څلور اوښان غله خدمت اقدس کښې راوليږله حضرت بلالؓ ترې څۀ خرڅه کړه او د يوۀ يهودي قرض ئې ادا کړو. چې په خدمت مبارک کښې بيرته حاضر شول نو هغو مبارکو ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې څۀ پاتې شول عرض ئې وکړو چې هو. وې فرمائيل چې تر څو دا پاتې وي زۀ نۀ شم تلے. حضرت بلال عرض وکړو څۀ وکړم څوک سوالي نشته. آنحضرت ﷺ هغه شپه په جماعت کښې تيره کړه. بله ورځ حضرت بلال ﷺ حاضر شول او عرض ئې وکړو چې يا رسول الله ﷺ له تاسو خدائے تکليف لرې کړو چې څۀ پاتې وو وويشل شول نو پاسيدل او

کور تـه ئـي تشـريف وفـرمايهٔ. هم دغه شان ئي يوهٔ ځل د نمازديگر نمونځ وکړ زر ئي کور ته تشـريف وفرمايهٔ او بيا زر بيرته راغلل خلق ځنځو حيران شول ورته ئي وفرمائيل چي په نمانځهٔ کښي راياد شـول چي کـور ځهٔ سرهٔ زر پاتي وو وې مي هسې نه چي شپه شي او راکړه پاتي شـي. دي ډيـاره لاړم او کـور مـي ووې چـي خيـرات دې کړے شي يوه ورځ ئي د اصحابو په مـجلـس کښي تشريف فرمايهٔ چي يو بدو راغلو د څادر مبارک پلو ئي ونيو راې کښهٔ او وې وئيل چي محمده ﷺ دا مال نهٔ ستا نهٔ ستا د پلار دے. د اوبښ يو بار رالره راکړه. هغو مبارکو ﷺ اوربښي او کجوري ورله په اوبښ بار کړے. د فياضي ئي دا حال وهٔ چي کهٔ هر څوک به حـاضـر شـو نـو کـهٔ ورسـره بـه څـهٔ موجود وو نو ورله به ئي ورکړل کهٔ نه وعده به ئي ورسره وکړه. وَاِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ تَرْجُوْهَا فَقُلْ لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُوْرًا" (بنی اسرائيل ١٧ : ٢٨) مطـلـب دا دے چي پـه داسـي حـال کـښـي چي څـهٔ نهٔ شـے ورکولے نو د خدائے د رحمت اميد کونکے ورته ښه خوږه وينا کوه.) له دې قبله خلق دومره زرهٔ ور شول چي يو ځل هـغـه وخت چي په نمانځهٔ ولاړ وو يو بدو راغے لمن مبارکه ئي ونيوه او ورته ئي ووئيل چي يو مـعـمـولي حـاجـت مـي پاتي دے. ويريږم چي هير مي نهٔ شي پوره ئي کړئ. ورسره لاړل هغه حاجت ئي ورله پوره کړو او بيا راغلل نمونځ ئي وکړو. (سيرت النبي ﷺ جلد ٢ ص ٣٠٨ ـــ ٣١٢) سـره د دې چي اسـلام کـښـي د ښـځـو ډپاره د سرو زرو پسول اچول مباح دي خو آنـحـضـرت ﷺ د اهـل بيت ډپاره استعمال نهٔ خوښولو. يو ځل ئي خپلي لور بي بي حضرت فـاطـمة الزهراؓ په غاړه مبارکه کښي د سرو زر اميل وليد ورته ئي وفرمائيل چي تهٔ به په دې نهٔ خفـه کيږے چي خلق دا وائي چي د پيغمبر لور د اور اميل په غاړه کړے دے؟ له ام المؤمنين حضـرت عـائشـه صـديـقـهؓ روايت دے چي وصال ئي فرمايهٔ نو په کور کښي ئي بي له لږ شان اوربشـو د خوراک ډپاره هيڅ نهٔ وو. اصحابو ته به ئي فرمائيل چي انسان لره په دنيا کښي هم دومـره بـس دي لـکـه مـسـافـر لره سامان. يو ځل ئي د بوجی په يوه بستره ارام فرمائيلو چي په اړخـونـو مبارکو ئي ورله نخښي کړے وے دې خلقو عرض وکړ چي کهٔ فرمايئ نو نرمه بستره بـه حـاضـره کـړو وې فـرمـائـيـل چي زما د دنيا سره څهٔ غرض بس دومره تعلق مي دے ورسره څـومـره چي يـو سـور پـه لاره د يوې ونې لاندې ارام وکړي او بيا ورانده شي. (سيرت النبي ﷺ جلد ٢ ص ٣٣٠ ـ ٣٣٢)

پـه خيـر خيـرات ئـي دومـره زور اچولو چي سرور کائنات ﷺ او د هغوي اهل بيت کـرام او اصـحـاب عـظام رضي الله عنهم ئي بهترينه نمونه پيش کړې ده. اسلام تر وسه ځان د سـوال کـولـو نـه د ژغـورلـو تعليم ورکړے دے. حضور عليه الصوٰة والسلام به فرمائيل کهٔ يو

سرے د لرګو ګیلوے په سر راوړي او خرڅوي ئي او د خپل مخ سرهٔ ساتي نو دا د سوال کولو نه بهتر دي. يوهٔ انصاريؓ ته ئي چې نادار وهٔ او د حضرت ﷺ په ارشاد ئي د لرګو خرڅولو کار شروع کړے او ګټه ئي پکښې کړې وه داسې ارشاد کړے وهٔ. "دا ښهٔ دي کهٔ هغه چې د قيامت په ورځ دې په مخ د ګدايي داغ وړے." د حجة الوداع په موقع ئي د صدقو مال ويشلو دوه کسه راغلل او په اخستونکو کښې شامل شول. هغو مبارکو ﷺ ورته وکتل او چې وې ليدل چې تندرست او توانا دي نو ورته ئي وفرمائيل چې کهٔ غواړئ نو څهٔ به درکړم خو د غنيانو او د هغو چې کار کولے شي په دې مال کښې حق نشته. (سيرت النبي ﷺ جلد ۲ ص ۳۱۶-۳۱۸)

اګر کهٔ هر هغه ځائے او هر کله چې عدل، انصاف او مساوات وي ظلم، جبر او زور زياتي نهٔ شي ايساريدے. غم زپلي او دردېدلي له غمه او درده خلاص شي او لکهٔ نورو وګړو هر هغه آرام او سکون خوشحالي او سوکالي ومومي چې ئي انساني حق وي. هم د دغه اصول او قاعدې نظر د وړاندې د بېلو بېلو انساني پړيوتو طبقو او مظلومو ډلو په حقله د اسلامي اصلاحاتو او پرې د سرور کائنات، خاتم النبيين رحمة للعٰلمين حضرت محمد مصطفيٰ احمد مجتبيٰ ﷺ د احساناتو په ليدو لوستو اګر کهٔ څخو تفصيلي خو په حقيقت کښې مختصر ذکر وشو. خو راشئ چې د نظر او بحث د لاندې پيش ګوني خاص طور سره د هغې برخې له نقطهٔ نظره هم وځيرو چې پکښې وئيلي شوي دي چې د موعود ﷺ په نزد به د کمزورې وينه قيمتي وي. تاسو د دې نه وړومبے ولوستل چې عربو به د جرائمو د سزا ورکولو په وخت د مجرم د نسبي او معاشرتي حيثيت خيال ساتلو په نورو الفاظو کښې د شرافت خپل جوړ کړے معيار به ئي د نظر د وړاندې وهٔ. تاسو د بني مخزوم د معتبرې قبيلې د يوې ښځې د غلا کولو په حقله د سرور کائنات ﷺ د سفارش او د هغو مبارکو ﷺ د باصوابه ځواب واقعه ولوستله. تاسو دا هم ولوستل چې د يهودو په دوؤ قبيلو بني نضير او بني قريظه کښې يو تر بله د جرائمو د سزا په باره کښې څنګه غير منصفانه قانون يا دستور رائج وهٔ او ومو ليدل چې په اسلام کښې د دوي تر مينځه واقعه پيښه شوه نو سرور کائنات ﷺ ئي څنګه عادلانه فيصله وکړه. په جاهليت کښې د عربو د خپلو لونو په ژوندانهٔ د ښخولو زښت ناکاره او پک دود نه هم خبردار شوئ. او دا مو هم وځيرل چې اسلام دغه نتلې ډله نهٔ يوازې له دغه جوره، ناتاره او مرګه وژغورله بلکې په معاشره کښې ئي ورته وچت او د نمانځنې وړ ځائے وبخښلو. د جاهليت په زمانه کښې عربو او يهودو دا دستور جوړ کړے وهٔ چې کهٔ د هغوي د معيار له رويه به د اشرافو غلام ووژلے شو او وژونکے يا د هغهٔ قبيله

بـه د مړي د بادار يا د هغهٔ د قبيلې سياله نهٔ وه نو د هغه غلام به بدل کښې به د وژونکي د قبيلې يـو ازاد غـړے ووژلے شو. او هم دغه شان د ښځې به بدل کښې سړے، او د يوهٔ ازاد سړي به بدل کښې دوه ازاد سړي. اسلام د دې ټې قانونه قانون په ځائے د قصاص قانون رائج کړو چې مـطـلـب ئې برابري ده او له رويه ئې قاتل او مقتول (ټې له دې چې د مقتول وارثان ئې وبخښي) بـرابـريـږي يعنې هم هغه کس به سزا مومي او مقتول سره به سميږي چې چا قتل کړے وي. د اسـلام پـه آئيـن او قـانـون کښـې او د حامل په مخکښې ئې د توانا او ناتوان فرق نشته. او دغه اصـول د بـارګـاه رسـالـت اخـص الخواص او د حضرت سيد العالمين ﷺ خليفه اول سيدنا حضرت ابوبکر صديقؓ د خلافت منصب ورسپارلے کيدو نه پس په خپله وړومبی خطبه کښې داسـې بيان فـرمائيلے وهٔ "والضعيف منکم قوي عندي حتیٰ ازيح علته انشآ ء الله والقوي فيکم ضـعيف حتـیٰ اخذ منه الحق انشآء الله الخ" يعنې له تاسو ناتوانه زما په نزد توانا دے ځو چې مې د هـغـهٔ شـکـايـت نهٔ دے لرې کړے کهٔ خدائے کا او له تاسو توانا ما وته ناتوانه دے ځو چې مې تـرې حق نهٔ دے اخستے کهٔ خدائے کا. (صديق اکبرؓ ص ٢٦، ٢٧) او هم دغه اصول حضرت مـولا عـلي المرتضیٰ په هغه خطبه کښې بيان فرمائيلے وهٔ کومه چې ئې د حضرت صديق اکبرؓ د وصال نه پس د هغهٔ مکان په ورهٔ کښې چې د جناب صديق اکبرؓ نعش مبارک پکښې پورت وهٔ ارشـاد کـړې وه. "الـضعيف الذل عندک قوي عزيز حتیٰ تاخذ بحقه والقوي عندک ذليل حتیٰ تـاخـذ منه الحق" يعني ناتوانه او لر به تا وته تر هغه وخته توانا او بر وهٔ تر ځو چې تا ورله حق نهٔ وهٔ اخستے او توانا او بر به تا وته تر هغه وخته ناتوانه او لر وهٔ چې تر ځو به دې ترې حق نهٔ وهٔ اخستے. (ايضاً ص ٣٠٩)

پـه ډېرنې ياد شوي اصول خو لکه چې بائيدهٔ او ښائيدهٔ په عهد رسالت او بيا له پسه ئې پـه عهـد خلافت برابر عمل کيدهٔ چې تاسو ئې ښې بهترينې نمونې وځيرلے. او نور ئې هم ډېر مثـالـونـه پيش کيـدے شـي خـو د مسـلـمانانو د عروج په زمانه کښې د امارت او ملوکيت په عهـدونـو کښـې هـم داسې مثالونه شته چې مسلمانان پرې په ځائے وياړيدے شي. زهٔ صرف د يوهٔ مثال په ورکولو بس کوم. د ترکي سلطان مراد د خجند د ښار يو معمار ته د يوهٔ جماعت د بـادولـو امـر وکـړ چې جـمـاعـت تيار شو سلطان ئې ليدو کتو لره لاړ. چې ځنګه ئې غوښت مـغـسـې ئـې تر نظره رانغے. ډېر وقهريدو او د معمار خوار د لاس پريکولو امر ئې وکړو چې له حـواره لاس پـريـکـړے شو نو هم په هغه حال قاضي لرئ په فرياد لاړو. قاضي ولګيد سلطان ئې اوغـوښـت او چـې ځـهٔ سلطان له قاضي صاحب واوړيد او ځنګه ئې په ادب او احترام تسليم کړهٔ هغه ځهٔ او د مستغيث رد عمل د علامه اقبال مرحوم په الفاظو کښې واوړئ:

گفت قاضی فی القصاص آمد حیات — زندگی گیرد ازین قانون ثبات
عبد مسلم کمتر احرار نیست — خون شہ رنگین تر معمار نیست
چون مراد این آیۂ محکم شنید — دست خویش آستین بیرون کشید
مدعی تاب خاموشی نہ ماند — بالعدل والاحسان خواند
گفت بہر خدا بخشید مش — برائے مصطفیٰ بخشیدمش
یافت مورے بر سلیمانے ظفر — سطوت آئین پیغمبر نگر
پیش قرآن بندہ و مولا یکے است — بوریا مسند دیبا یکے است

(رموز بیخودی)

دریمه حصه د پیش گویی دا ده چې په څلور کنجه دنیا به ئې حکم چلیږي. د بیابان خلق به ئې فرمانبردار او میرخمن به ئې خوار شي. د دغه حصې درې واړه خبرې داسې بنکاره او جوتې دي چې هډو تبصرې ته اړې نهٔ لري. تر اوسه د هغو مبارکو ﷺ حکم په څلور کنجه دنیا کښې روان او جاري دے. او کروړونه وګړے ئې په سر سترګو مني. وړومبے د فرمانبرداری سعادت ئې هم د بیابان یا صحرا خلقو ته عطا شو او بیا نهٔ صرف د صحرا بلکې د نورو ډیرو زمکو حکومتونه او د عالم د فرمانروایی سعادت هم وړومبے د بیابان او صحرا خلقو ته وبخښلے شو. نهٔ صرف د صحرا بلکې د سمو د غرونو، لویو آبادو ښارونو او ملکونو، دشتونو کهسارونو ګلزارونو او جزیرو د قیصر او د کسریٰ د مملکتونو مالکان شول. الله واحد لا شریک ئې لکه چې ورته د هادي برحق ﷺ په ذریعه هدایت شوے وهٔ ونمانځلو. نمانځلو به ئې او د خدائے په زمکه ئې هم د هغهٔ حکم او امر جاري کړو. او د هغهٔ په فضل و کرم د هغهٔ د محبوب او مقبول رسول ﷺ له برکته او فیضه ئې د دنیا او هم د اخرت خیر کثیر بیاموند. د هغه کوثر برخې چې ئې بادار ته عطا شوے دوي ته هم ورسیدلے او هر هغه چاته رسیدلے او رسیدونکے دي چې څوک ئې په پلهٔ تللي او تلونکي دي. (ان شآء الله) او هغوي چا چې د صحرا د شهزاده او هم د کونینو شهنشاه ﷺ سره دښمني وکړه بیخ بنیاد ئې ورت لکه چې د خدائے فرمان او وعده ده "اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ" (سورهٔ کوثر)

د پیش ګویی څلورمه برخه وائي چې بادشاهان به ورته پرمخ پریوځي. د هغې وخت د دنیا دوه لوئي شهنشاهیتونه هم د الله جل شانه په فضل او امداد هم د شهنشاه کونین ﷺ سروسامان امت مات او ختم کړو. صرف دا نه بلکې د آنحضرت ﷺ دنیا ته د سیاست او معاشرت د اجتماعي ژوند داسې اصول بخښلي دي چې په هغو کښې د شهنشاهیت او ملوکیت او د هر هغه نظام چې انسان پکښې د انسان محکوم وي یا پکښې ئې په حیثیت د

انسان د عدم مساوات شائبه قدرې هم وې هیڅ گنجائش نشته. چې په اووم کال د هجرت کښې هغو مبارکو ﷺ د وخت باچهانو ته د اسلام دعوت نامې لیږلې وې نو یوه پکښې د ایران د کسرئ خسرو پرویز په نامه هم وه. هغهٔ بې ادب بدبخت د خط مبارک په مضمون خصوصاً په دغه خبره چې سرور کونین ﷺ خپله مبارکه نامه د خسرو پرویز ملعون د نامې نه وړومبی لیکلې وه ډېر وڅهریدو او گستاخانه ئې له خپله انده هغه هدایت نامه وشلوله خو په حقیقت کښې لکه چې مولانا نظامي فرمائي خپل نام و نشان ئې ورک کړو:

دریدآن نامهٔ گردن شکن را

نه نامه بلکه نام خویشتن را

د دغې گستاخۍ نه پس ئې بې ادبانه د یمن حاکم باذان ته ولیکل چې سرې ولیږې چې معاذ الله سرور کائنات ﷺ گرفتار کړي او دربار ته ئې واستوي چې د یمن د حاکم سپاهیان بارگاه رسالت کښې حاضر شول او خسرو پرویز ملعون له حکمه ئې رسالت مآب ﷺ اگاه کړل نو هغو مبارکو ﷺ ورته وفرمائیل چې "هلك كسرىٰ و لا قيصر بعدى" یعنې کسرئ هلاک شو او پس له ما به قیصر نهٔ وي. او دا ئې ورته هم وفرمائیل چې د اسلام حکومت به د کسرئ پایه تخت پورې رسي. دغسې ئې د کسرئ حکم پامال او د هغهٔ سړي رخصت کړل دغه سپاهیان لا په لاره وو چې خبر شول چې شیرویه د کسرئ خسرو پرویز زوي هغه قتل کړو.

د حضرت رسالت مآب ﷺ په ارشاد کښې چې د کسرئ د هلاکت او د حضرت رسالت مآب ﷺ نه پس د قیصر د نهٔ پاتې کیدو په باب دے کهٔ یو خوا پیش گوئي ده نو ورسره خپل امت لره هدایت او دنیا وته اعلان هم دے چې اسلام کښې د ملوکیت او شهنشاهیت ځائے نشته. او حکم، امر، هدایت او حقیقت په کلام د زور اچولو او تاکید دپاره د واقعې په رنگ او شکل د بیانولو مثالونه ډېر دي. کهٔ د امیر المؤمنین حضرت علي المرتضیٰ کرم الله وجهه نه پس بادشاهانه نظام رائج شو او بادشاهانو ځانته امیر المؤمنین او ځانته خلیفه وبللو نو د دوي د غلط یون په دغه باب د اسلام په اصولو هیڅ اثر نهٔ شي پریوتے.

علامه اقبال مرحوم فرمائي:

عرب خود را به نور مصطفیٰ بسوخت — چراغ مردهٔ مشرق بر افروخت

لیکن آن خلافت گم کرد — که اول مؤمنان را شاهی آموخت

(ارمغان حجاز)۔

چې کوم وخت امیر معاویه صاحبؓ ولګید یزید ئې خپل جانشین ونومولو او د امیر

معاویہؓ او مروان بن حکم تر مینځه د ساز باز نه پس مروان د دمشق د دربار د منشا او امر سره سم د یزید د نامزدګی د جواز پـحقله پروپیګنډه شروع کړه نو حضرت عبدالرحمٰن بن ابوبکر صدیقؓ ورته ووئیل چې مروانه ته او معاویه دروغژن یئ. تاسو د محمد ﷺ د امت دپاره کومه بنیکړه ولټوله؟ تاسو خو د خلافت په ځائے حکومت هرقلیه قائمول غواړئ چې یو هرقل ومري نو بل هرقل ئې په ځائے کښینې. حضرت امام حسین ابن علي المرتضیٰؓ حضرت عبدالله بن عمر فاروقؓ حضرت عبدالله بن زبیرؓ په اتفاق د حضرت صدیق اکبرؓ د فرزند ازجمند د قول حق تائید وکړو. (اردو ترجمه تاریخ ابن خلدون جلد ۵ ص ۴۴، ۴۵)

حضرت ابوبکر او حضرت عمر دواړو مبارکو رضي الله عنهما چې خپل خپل جانشین مقررول نو د تقویٰ او صلاحیت معیار ئې د وړاندې وه او د حکومت د سربراهي دپاره چې دا معیار مقرر شي نو د نسلي خانداني او طبقاتي حکومت او واک اختیار او په نورو الفاظو کښې د ملوکیت او شهنشاهیت ځائے چرې؟

زمونږ د ویش له رویه د زبور په پینځمه برخه کښې دا خبرې د غور وړ دي.

(۱) ژوندے به پائي (۲) په حقله به ئې تل دعا وي برکت به پرې وئیلے شي او له مخه به ئې وکړے ځان برکتي بولي.

تر څو چې د ابدي ژوند تعلق دے نو داسې بقائے دوام لکه چې حضرت سرور کائنات ﷺ ته الله جل شانه بخښلے دے بل چا ته نه وو بخښلے شوے نه بخښلے شوے دے او نه به بخښلے کیږي. آنحضرت ﷺ د الله په حکم وفات شوي دي ورلره چې الله تبارک و تعالیٰ کوم طبعي عمر مقرر کړے وو هغه ئې پوره کړے او له دې دنیا ئې تشریف وړے دے خو یو ځ ورته د طبعي عمر نه پس د خپل رب جل شانه په بارګاه کښې حیات ابدي او بقائے سرمدۍ سره د داسې او دومره بې انتها اکرام و انعام او بې غایاته عنایات حاصله ده چې بل چا لره ئ علم او تصور ممکن نه دے. او نه ئې د حواسو په ذریعه شعور کیدے شي. علاوه له د نوازشونو او بخششونو په عالم کون و مکان کښې ئې هم الله تبارک و تعالیٰ نام، دین شریعت اسلام دوام لره وچت کړے دے. اګر که د حضرت سید الانبیاء ﷺ نه وړومبے چ کوم پیغمبران علیهم السلام تیر شوي دي هغوي او د هغوي د امتونو نیکانو لره هم د خپ مرتبو او درجو مطابق اجر او جزا او انعام او اکرام شته خو دا خو یوازې د حضرت خا النبیین ﷺ ذات بابرکات، ستوده صفات او مجمع کمالات دے چې دا خصوصیات لر چې کوم پیغام الٰهي، کوم قرآن مجید او فرقان حمید سره هغوي ﷺ رالیږلي شوي وو ه له پخوا د وعدهٔ خداوندي "نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ إِنَّا لَهُ لَحَافِظُوْنَ" سره سم تراوسه بې د معمو

نـه معمولي کمی بیشي او د لږ نه لږ ردوبدل بالکل هم هغه شان محفوظ دے. او هغه شریعت چې ورلـره الله عزوجل ور کړے وۀ د نورو ټولو شریعتونو ناسخ شو. او پخپله تراوسه سالم او نـافـذ دے او هیـڅ ګـډون پـکښې نۀ دے شوے. او کۀ هر څو ئې د امت یوه لویه ګڼه له بدعاتو متاثره او عملاً له کتابه او سنته منحرفه شوې ده خو کتاب او سنت په خپل حال قائم د هدایت رڼـا او د حق او صـداقـت پـلوشـې پـه ځـلـور کـنـجه دنیا اچونکي او د باطل تیرې تار په تار ځـوروونـکـي او ورکـونـکـي دي. او صرف مسلمانان یو داسې ملت دے چې سره د خپلو هغو مـوجـوده ؤ خـامیـو او کـوتـاهیـو چې بـره ئـې ذکر وشو د یوۀ نه په زیاتو ملکونو کښې هم په مـعـاملات او هم په حدود او تعزیرات کښې خپل شرعي یا مذهبي قانون مني او ځائے په ځائے د اهـل حق ډلې (کۀ هر څو لږې او په ګڼه وړې دي) لرې چې حق تعالیٰ ترې د دین او شریعت د حـفـاظت کار اخلي. نو دا ملت د خدائے برګزیده او په کونینو کښې د فضل او رحم و کرم مورد دے.

بیـا چې تر کومه ئې په حقله د دعا او پرې د برکت ونیلے کیدو او له مخه ئې د وګړي د بـرکـتـې کیـدو تعلق دے نو په بل چا هره ورځ له سحره تر نماسختنه او په شپو کښې دومره صلـوٰت او سـلام لیـږلـے کیـږي لـکـه چې په سید العالمین او رحمة للعٰلمین حضرت محمد مصطفیٰ احمد مجتبیٰ ﷺ او بل چا لره او په وسیله ئې دومره خیر او برکت غوښتے شي لکه چې هـغـوي ﷺ لـره او د هغوي ﷺ په وسیله. او بیا نۀ صرف مکان او زمان کښې بلکې له حـدودو او قیـودو نـې بهـر چې کوم صلوٰة او سلام او درود او تحیة په هغو مبارکو ﷺ ونیلے شي پـه بـل چا، پخپله الله جل شانه رب او معبود ئې په خپل دغه له هر چا محبوب او له هر چا زیـات مـربـوب عبـد صـلـوٰة وائي او ملائک ئې په دغه وظیفې مامور دي. او امت ته ئې هم د ادائیـګۍ ارشاد او تاکید دے چې حق تعالیٰ فرمائي: "اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا" او د حـضرت سرور کائنات ﷺ ارشاد دے چې په ما غائبانه درود وائي نو فرښتې ئې ماته رارسوي. او چې په روضه مبارکه مې وائي نو زۀ ئې پخپله اورم او ځواب ئې ورکوم. دا هم د حضرت سـرور کائنات ﷺ د ابدي ژوند یو شان او کـیـفیـت دے. "الـلهـم صل علیٰ محمد و علیٰ آله و اصحابه اجمعین" او دا صرف لکه چې وړومبے هـم (پـه تیـرو نوټونو کښې ونیلي شوي دي د حضرت سرور کائنات ﷺ امت او د حـضـرت ابـراهیـم خـلیـل الله علیه الصلوٰة والسلام ملت، امت مسلمه، امت محمدیه یا ملت ابـراهیـمیـه دے چې پـه حـضـرت سرور کائنات ﷺ سلام او صلوٰة سره پکښې په حضرت ابـراهیـم عـلیـه الـسـلام هـم سلام او صلوٰة قائم دے. په دواړو درود، صلوٰة او سلام او برکات

وائـي او ليږي. بلکې د هر نبي ذکر کۀ په نامه يا بې نامې راشي سلام او صلوٰة پرې وائي. مثلاً حـضـرت موسـىٰ عـليه السلام، حضرت عيسىٰ عليه السلام او انبياء عيلهم السلام نو يو خو د حـضـرت سـرور کـائـنـات ﷺ د پاک تعليم په وجه په انبياء او رسل متواتر صلوٰة و سلام او بـرکـت وئيلے شي او هغه کسان د سرور کائنات ﷺ امتيان چې په انبياء عليهم السلام درود او سلام وائـي او بـرکـات ورلـه غواړي پخپله هم په دې عمل خصوصاً په آنحضرت ﷺ او حـضـرت خـليـل عـليه السلام د درود وئيلو په وجه برکتيان کيږي. او بيا د هغه برکت به څۀ وايـو چې يـو سـعـادت مـند او بختور امتي د حضور ﷺ روضې مبارکې ته ورسي درود پرې وائـي او هـغـه مبـارک ﷺ ورله باهر کته څواب وفرمائي. اللهم صل علىٰ محمد و علىٰ آله و اصـحابه اجمعين. نو دغه د پيش گوئي د نظر د لاندې حصې ښکاره او جوت تکميل او ثبوت دے.

زبـور لـکه چې تاسو وليدل په دې دعا ختميږي چې ټول جهان دې د خدائے په جلال ډک وي د حضور ﷺ د بعثت سراپا هدايت او سعادت نه وړومبے چې عالم انسانيت څنگه په کـفر او شرک کښې مبتلا وۀ. څنگه چې له خپل حقيقي معبود الله واحد لا شريـک روگردان او د راز راز او قسـمـاقـسـم مـعـبـودان بـاطل د وړاندې سر ټيټونکے وۀ هغه يو څرگند تاريخي حـقـيـقـت دے. انسـان اشـرف الـمخلوقات چرته خو د کاڼو لرگو بتان پخپله تراشلي او جوړ کـړي وو او نـمـانـځـل بـه ئـې. چرته به څناور، حشرات الارض او خاص خاص انساني اعضا نمانځلے کيدل او چا به اور ته سجدې کړے. چرته د فطرت د مظاهرو نمر، سپوږمۍ، ستورو وغيـرها نمانځنه کيده او چا بادشاهان، حاکمان او ملايان لکه د خدائے منل چا پيغمبران. يا د خپـل مـلـک او قـام نيـکـان، صـلـحـا يـا مشران د خدائے شريکان کړي يا خدايان بللي وو. د حـضـرت سـرور کـائنات ﷺ چې په کوم ښار مکې معظمې کښې ولادت باسعادت او بعثت سـراپـا هـدايـت شـوے وۀ په هغه ښار کښې د حضرت ابراهيم خليل الله او حضرت اسماعيل عليهما السلام د الله واحد لا شريـک د عبادت دپاره جوړې کړې کعبه شريفه کښې درې سوه او شپيتـۀ بتـان د هغو مبارکو ﷺ نه پس له تعليمه ئې اوږيدونکو ايښي وو. د اسلام د ټولو نه لـوئـے داعـي او پـه دې حيثيت د خـدائـے د ټولو نه برگزيده او اخري پيغمبر حضرت محمد مصطفىٰ احمد مجتبىٰ ﷺ بت پرستي، مظاهر پرستي، آتش پرستي، انسان پرستي، د حلول، ابنيت. تثليث او تثنيې عقيدې او د شرک هر نوع او قسم باطل وگرزولو. د خالص توحيد او ايـمـان رڼـا سره ئې د شرک او کفر لړې او شخړې تار په تار کړے. انسان ته ئې وښئيل چې د هغـۀ او د هـر چا او هـر څـۀ خالق، مالک، رب او معبود هم يو الله دے چې په ذات صفات او

بادشاهي کښې ئې هيڅوک شريک نشته. يو دے له هر چا او هر څۀ بې نيازه او هر څوک او هر څۀ ورته نيازمن دي. د هيچا او د هيڅ څۀ حاجتمند نه او هر څوک او هر څۀ ورته حاجتمند دي. نۀ زوونکے او نۀ زيږيدونکے او نۀ سيال لرونکے دے. د هغۀ ربوبيت نامحدوده دے لکه چې پيدا کونکے د هر څۀ او د هر چا دے نو هم دغه شان پالونکے او ورلره تا کلي کمال ته رسونکے هم د هر څۀ او هر چا دے. د هغۀ فضل، رحم و کرم او بخشش د هر څۀ او د هر چا دپاره دي. هغه رب العالمين دے او بې له هغۀ بل څوک يا څۀ د دې ورړ نۀ دي چې عبادت ئې وکړے يا مدد ترې وغوښتې شي. اسلام چې د ذات اعليٰ الله جل شانه کوم اعليٰ او ارفع او پاک سپيڅلے تصور دنيا ته ورکړے دے نۀ په اديان عالم او نۀ په فلسفه کښې ئې چرې مثال شته خو تفصيل او تشريح او تقابلي مطالعه ئې ډير وخت او ځائے غواړي چې دغه نوټ ئې نۀ شي متحمل کيدے. د قرآن مجيد خصوصاً د سورۀ فاتحه او سورۀ اخلاص او د سنت په رڼا کښې د اسلام د توحيد د نظريې د بنيادي خبرو ذکر او بيان وشو. غرض دا چې په زبور کښې ياد شوي موعود برحق محمد مصطفيٰ عليه افضل التحيات والصلوٰة ارض و سما د خدائے په جلال سره د هغۀ د جمال له شانه د هغۀ په توفيق او فضل و کرم پوره کړل او تاريخ په دې خبرې شاهد دے چې په ديني او مذهبي معلمانو کښې کومه کاميابي هغه سرور کائنات ﷺ ته حاصله شوې ده بل کوم معلم نۀ ده بيامونده. په اتمه هجری کښې ئې چې مکه معظمه فتح کړه نو بنائے ابراهيم ئې له بتانو پاک او صاف او د الله جل شانه د عبادت دپاره ئې خاص کړو. او د "جآء الحق و زهق الباطل ان الباطل كان زهوقا" شان ئې دنيا ته وښئيلو. او نن هم صرف د امت محمديه ﷺ او ملت ابراهيميه په جماعتونو کښې پينځۀ وخته سحر، ماسپښين، نمازديگر، نماښام، نماسخوتن د الله لويې، د کبريايي او توحيد نعرې وچتيږي. او څنګه چې مسلمان د اذان وړومبے غږ واوري نو د الله د ذات پاک د شان جلالي او شان جمالي ذکر په ژبه راوړي جل جلاله و عم نواله. او علاوه له دې هم دا طريقه او سنت هم په امت محمديه ﷺ او ملت ابراهيميه کښې جاري دے چې په عامه گفتگو کښې هم هر کله د الله پاک نامه راشي نو ورسره تبارک و تعاليٰ، جل شانه، جل جلاله، رحيم، کريم او دغسې د هغۀ نور جلالي او جمالي صفات بيانوي. چې په مستقبل کښې د کار کولو خبره کوي نو ان شآء الله العزيز او ان شآء الله تعاليٰ ورسره وائي. او د الله د غلبې او قوت او عظمت او د خپل ضعف عجز او احتياج او د دې خبرې اعتراف کوي چې زما او د هر چا اراده د الله تعاليٰ د مشيت تابع ده. او د مسلمان دغه عقيده او ايمان له دغې دعا هم چې حضرت سرور کائنات ﷺ ئې ورته سحر ماښام د کولو تلقين فرمائيلے دے په ډير ښۀ شان ښکاره دے:

"سُبْحَانَ اللّٰهِ وَ بِحَمْدِهٖ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ مَا شَآءَ اللّٰهُ کَانَ وَ مَا لَمْ یَشَآءْ لَمْ یَکُنْ اَعْلَمُ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ وَ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِکُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا."

يعني الله پاک دے او هره ستائنه هم دهٔ لره او طاقت او قوت هم يوازې دهٔ لره دے چې ئې څهٔ غوښتل وشول او چې څهٔ ئې ونهٔ غوښتل ونهٔ شول. زما يقين دے چې بيشکه الله په هر شي ډير لوے قدرت لرونکے دے او بيشکه د هغهٔ علم هر شے راګير کړے دے. او "لا حول و لا قوة الا بالله العلي العظيم" چې پکښې سوا له الله د هر چا د طاقت انکار او يوازې د الله چې ډيرې بلندۍ او برترۍ او د ډير عظمت څښتن دے د طاقت او قوت اقرار دے د مسلمان له مستقلو ارادو او اذکارو څخه دے.

د انجيل پيش ګوئي:

"خو زهٔ رښتيا وايم چې زما تلهٔ تاسو لره سودمن دي ولې کهٔ زهٔ لاړ نهٔ شم نو هغه مددګار به تاسو لره رانهٔ شي خو کهٔ لاړ شم نو هغه به تاسو له راوليږم () او هغه چې راشي نو دنيا به د ګناه، راست بازۍ او عدالت په باره کښې قصور واره ګرځوي () د ګناه په باره کښې دې دپاره چې هغوي په ما ايمان نهٔ راوړي () د راست بازۍ په باره کښې دې لره چې زهٔ پلار لره ځم او تاسو به ما بيا نهٔ وينئ () او د عدالت په باره کښې دې لره چې د دې دنيا سردار مجرم وګرځولے شو زهٔ تاسو وته نورې هم ډير خبرې لرم خو اوس ئې تاسو نهٔ شئ زغملے () خو هر کله چې هغه اعني د رښتياؤ روح راشي نو هغه به مو مکمل حق طرف ته هدايت وکړي ځکه چې هغه به له ځانه نهٔ وائي بلکې څهٔ چې به آوري هم هغه به وائي او تاسو به له مستقبله خبروي () هغه به زما بزرګي بيانوي دې دپاره چې څهٔ زما دي هغه به حاصلوي او در رسوي به ئې () څهٔ چې د پلار دي هغه زما دي نو دې دپاره مې ووې چې هغهٔ به څهٔ چې زما دي حاصلوي او ترې به مو خبروي ()" (د يوحنا انجيل باب ۱٦)

د حضرت عيسیٰ علیٰ نبينا و عليه السلام په دغې تقرير کښې اګر کهٔ تحريفات صفا ښکاري مثلاً زهٔ به ئې راوليږم او پلار لره ځم او داسې نورې خبرې هم خو سره د دې د حق او هدايت نخښې ترې بالکل نهٔ دي ورکې بلکې پکښې څرګندې پاتې دي. په نوي عهدنامه کښې د يوحنا د دې ترجمې: انګريزي ترجمه آتهورائيزډ ورژن Authorized Version چې د انګلستان د بادشاه جيمز اول په حکم او سرپرستۍ شوې وه د معاصر يهودي عالم ډاکټر هيوجے شونفيلډ Dr. Guge J Schonfield انګريزي ترجمه او د برټش اينډ فارين بائبل سوسائټي لاهور اردو ترجمه (مکرر طباعت ۱۹۲٦ء) زما د وړاندې ده. او په اوومه جمله کښې چې "مددګار" لفظ راغلے دے د اردو ترجمې مطابق دے او په حاشيه کښې ئې

ورته "شفیع او وکیل" لیکلي دي. د ډاکټر شونفیلډ په ترجمه کښې چې ئې په ځائې کوم لفظ استعمال شوې دې ایډوائزر Adviser دې او د شاه جیمز په ترجمه کښې کومفرټر Comforter نو اوس د ایډوائزر معنې دي صلاح او مشوره ورکونکې او له چا چې صلاح مشوره غوښتلې شي او استصواب ترې کیږي او کومفرټر هغه وي چې آرام، سکون او اطمینان او له حزن او تکلیف نجات بخښي. کټل دا دي چې هغه اصل لفظ څهٔ دې چې دغه بیلې بیلې معنې مددګار، وکیل، شفیع، مشیر او اطمینان بخښونکې معنې ئې شوي دي. د حضرت عیسیٰ علیٰ نبینا و علیه السلام ژبه آرامي عبراني وه چې عبراني او عربي دواړو سره لګیده د یوحنا د انجیل د اصل آرامي نسخې چرته نوم نښان نشته او کومه عبراني نسخه چې د یوحنا د انجیل بیاموندې کیږي هغه له یوناني عبراني ته اړولې شوې ده. او د مختلفو او ډیرو تحقیقونو او بحثونو نه دا خبره جوتیږي چې دغه د بحث لاندې مختلف الفاظ مددګار، شفیع، وکیل وغیره د یوناني لفظ پیراکلیت Paraclethe یا پیرا کلیتوس Paracletus نه ماخوذ او ترجمه شوي دي بیا ځنې علماء دا هم وائي چې پیرا کلیت یا پیرا کلیتوس اصلاً یوناني لفظونه نهٔ دي بلکې سریاني عبراني یا کلداني دي. د عبراني شکل ئې فارقلیط دې. لیکن دغه خبره پایه ثبوت ته نهٔ ده رسیدلې چې فارقلیط د کومې ژبې لفظ دې. او یا دا چې په یوناني کښې له عبراني، سریاني یا کلداني راغلې دې. په هر حال پیراکلیت او پیراکلیتوس دواړه لفظونه په یوناني کښې شته. او تر څو چې حتماً ثابته نهٔ شي چې دغه الفاظ د ارامي یا عبراني دي. مونږ نهٔ شو وئیلې چې حضرت عیسیٰ علیه السلام کوم لفظ استعمال کړې وهٔ. خو چې مونږ د دغو یوناني لفظونو او فارقلیط (عبري شکل) معنې لټوؤ نو دې نتیجې ته رسو چې دغه لفظونه د لفظ احمد مترادف دي.

پادري تسډل چې په ایران کښې د مسیحیت مشهور مبلغ پاتې شوې دې او په فارسي کښې ئې د انجیل یوحنا ترجمه هم کړې ده. د بحث د لاندې په جمله په حاشیه کښې لیکي چې د پیراکلیت یا پارا کلیت ترجمه احمد نهٔ ده. په کوم یوهٔ یوناني لغت کښې هم دغه ترجمه نشته. البته په یوناني ژبه کښې یو لفظ پیراکلیتوس (پارا کلیتوس) شته چې معنیٰ ئې احمد ده. بیا هم دغه پادري په خپل یوهٔ کتاب چې د اسلام خلاف (نعوذ بالله) ئې د "ینابیع الاسلام" په نامه لیکلې دې او سر ولیم میور ئې په انګریزي کښې ترجمه د Sources of Islam عنوان لاندې کړې ده کښې لیکي چې مسلمانان په دغه غلط فهمي کښې له دې قبله پریوتي دي چې یوهٔ کیتهولک پادري د دغه لفظ ترجمه احمد کړې ده.

لکه چې د میثاق النبیین مؤلف لیکي یو بل پادري سیل چې د قرآن پاک ترجمه ئې په

انګریزی کښې کړې ده په یوه حاشیه کښې لیکي چې د عبراني لفظ فارقلیط ترجمه احمد ده. خو ورسره دا هم وائي چې په انجیل برناباس کښې مسلمانانو تحریف کړے دے. له پارا کلیت ئې پرې کلیو طاس جوړ کړ چې معنیٰ ئې احمد ده. زما په مخکښې د سیل د ترجمې نوې ایډیشن کښې چې د اصل ایډیشنه د سیل خپله لیکلې مقدمه ترې حذف کړې شوې ده. د قرآن مجید په متعلق ځائے (۲:۶۱) په لیکلے شوے حاشیه کښې سیل وائي چې مسلمانان علماء د پیرا کلیت یا لکه چې هغوي ئې پیریکلایت په معنیٰ د ممتاز او معزز لوستل غوره کړې دي بې له خپله پیغمبره ﷺ بل څوک مراد نهٔ ګڼي. (ص ۵۳۴) د دې نه وړومبے د سورة آل عمران د ترجمې له حواشي په یوه حاشیه کښې د انجیل برناباس په حقله وائي چې اصلاً د چا نام نهاد عیسائي جعل وهٔ او بیا پکښې مسلمانانو تحریف کړے دے او هم په دغه حاشیه کښې له انجیل برناباسه د حضرت عیسیٰ علیه السلام دغه ارشادات د برنباس د سوال چې هر کله هغه مبارک علیه السلام په صلیب نهٔ شو کړې نو ولې ئې والده ماجدهؓ او حواریان په دغه خیال ودردولے شول. په خواب کښې نقل کوي "او برناباسه... اګر کهٔ زهٔ په دغه دنیا کښې بې ګناه وم خو نورو خلقو ماته خدائے ووې او د خدائے زوے نو دې دپاره خدائے غوره کړه چې په ځائے د دې چې شیاطین په دوزخ کښې په ما پورې وخاندي په ما پورې دې سرې د یهودا د مرینې له قبله وخاندي او دغسې ئې هر یو سړے په دغه خیال کولو وګمارلو. چې زهٔ په صلیب مړ شوم نو دې دپاره به دغه استهزا (خندا) د محمد رسول الله راتلو پورې جاري وي. او هغه به هغوي چې د خدائے په شریعت ایمان راوړي له دې غلط فهمی خلاص کړي."
(ص ۵۰، ۵۱)

وړومبے له دې چې د انجیل یوحنا په زیر غور لفظ نور بحث وکړو سودمن به وي چې د انجیل برناباس په حقله هم څهٔ ووئیلے شي. په نوې عهدنامه کښې څلور انجیله دي. د متي انجیل، د مرقس انجیل، د لوقا انجیل او د یوحنا انجیل. او په دغو څلورو واړو کتابونو کښې یو هم د خپل لیکونکي نومونه نهٔ ښیي. صرف د وړومبي او څلورم انجیل نومونه د آنجناب علیه السلام د دوؤ شاګردانو په نامو دي خو صرف د قیاس په بنا او د څهٔ نور غیر یقیني او غیر حتمي شهادت به بنا وئیل کیدے شي چې دا دوه انجیله د شاګردانو (حواریانو) لیک دے. د نوې عهدنامې د نامه اعمال نه معلومیږي چې د قبرص وسیدونکے د بني لاوي د قبیلې یوسف نومے یو سړے چې برناباس لقب ئې وهٔ له هغه کسانو څنې وهٔ چې په حضرت عیسیٰ علیه السلام ئې په ابتدا کښې ایمان راوړے او دغسې برناباس د آنجناب علیه السلام په امت کښې له سابقون الاولون وهٔ او ډیر تبلیغي سفرونه ئې هم کړې دي. دا هم معلومیږي چې سینټ پال

(پولس) سره ئې اختلافات هم راغلي وو. په هر حال حتماً نهٔ شو وئيلې چې د انجيل برناباس ليکونکې هم دغهٔ د نامه اعمال برناباس دے کهٔ بل څوک خو د انجيل برناباس ليکونکې ځان د آنجناب عليه السلام حواري بولي. متي او مرقس چې د حواريانو کوم فهرست ورکړے دے او په متي ۱۰: ۲ - ۴ کښې چې د آنجناب عليه السلام د حواريانو کومې نامې ورکړې دي دا دي شمعون، عرف پطرس، او د هغهٔ ورور انرډياس يعقوب بن زبدي د هغهٔ ورور يوحنا بن زبدي، فلپس، برتلمائي، ترما، متي محصل، يعقوب بن حلفي، تدي، شمعون قناني، يهوداه اسکريوتي.

برناباس چې د حواريانو کوم فهرست ورکړے دے له برني فهرسته د دوؤ نامو اختلاف لري د ترما په ځائے برناباس خپله نامه کښې او د شمعون قناني په ځائے د يهوداه ابن عقوب نامه خو د لوقا ۶: ۱۶ نه ظاهريږي چې د يهوداه نوم دوه حواريان آنجناب عليه السلام درلهٔ يهوداه د يعقوب زوے (اردو ترجمه او په حاشيه کښې يا ورور) يا ورور (انګريزي ترجمه) او يهوداه اسکريوتي. د لوقا په فهرست ۶: ۱۴ - ۱۶ کښې د تدي نوم نشته او د شمعون قناني په ځائے شمعون زيلوتيس (قناني او زيلوتيس په معنئ د غيرتمند ئې ليکلې دے) په يوحنا ۱۴: ۲۲ کښې هم يهوداه نوم دے تصريح سره راغلے دے چې دے يهوداه اسکريوتي نهٔ دے نو دغسې د نصاريٰؤ په نزد د مستندې نوې عهدنامې د څلورو انجيلونو او د برناباس د غير مستند انجيل د شاګردانو (حواريانو) د نومونو په فهرستونو کښې د يو نوم فرق پاتې کيږي. او هر کله چې د برناباس عقائد او خيالات او د هغهٔ انجيل د حضرت عيسي عليٰ نبينا عليه والسلام د مبارک تعليم نه د منحرف کيدونکو او د هغو مبارکو عليه السلام په تعليم کښې د تحريف کونکو په عقائدو او اعمالو يو زبردست انتقاد وهٔ. نو عجيبه نهٔ ده کهٔ د دهٔ نوم ئې له حواريانو خارج کړے وي.

د برناباس د انجيل په حقله لکه چې تاسو د پادري سيل رائ ولوستله. نصاريٰ دا پراپيګنډه کوي چې دا چا د نوم نصراني، چا ملحد يا چا مسلمان ليکلې دے. نصاريٰ د برناباس انجيل د دوؤ خبرو په وجه خفه کړي دي. يو خو دا چې دغه انجيل په عکس د نصاريٰؤ په نزد د مستندو انجيلونو د مشرکانه تعليم په ځائے د توحيد تعليم ورکوي او ورسره د حضرت عيسيٰ عليه السلام مصلوب کيدل هم نهٔ مني. او دغسې د کفارو د عقيدې رد کوي. او دويمه دا چې په دهٔ کښې د حضرت سرور کائنات ﷺ په حقله بشارت ډير ښکاره او څرګند دے. پاتې شول د ليکونکي عقيده او مذهب ئې نو ليکونکې ئې په دې وجه نام نهاد عيسائي يا ملحد نهٔ شي کيدے چې هغهٔ يو داسې انجيل ليکلې دے چې د هغو اناجيلو

نه مختلف دي چې اوسنو او د هغوي پېشرو منحرف کېدونکو او تحريف کېدونکو نصاريٰ ؤ مستند ګڼلې دي. دغه سربېره مسلمان خو ضرور وۀ خو په امت محمديهﷺ کښې د شامليدو شرف ورته نۀ وۀ حاصل بلکې د حضرت سرور کائنات ﷺ نه يقيناً وړومبې تير شوي دے. او د حضرت عيسيٰ عليه السلام په حواريانو کښې کۀ چرې نۀ وۀ نو امتي ئې ضرور وۀ او د هغوي د پاک او مبارک تعليم ربښتونے او صحيح مبلغ. د پوپ ګلاسئيس اول زمانه د حضرت سرور کائنات ﷺ د ولادت باسعادت نه ۷۵ کالونه اګاهو ده. د ګلاسئيس په عهد کښې د غلطې عقيدې او ګمراه کونکو کتابونو يو فهرست تيار شوے وۀ چې د پاپائي فتوې له رويه ئې لوستل منع کړل شوي وو. په دغه فهرست کښې انجيل برناباس هم شامل وۀ. نو دغه وخت د امت محمديهﷺ کوم فرد وۀ چې د برناباس جعلي انجيل ئې ليکلے وۀ. بلکې دغه کتاب د پوپ ګلاسئس په زمانه کښې موجود او ترې وړومبې ليکلے شوے وۀ. مونږ وړومبې د سينټ پال (پولس) او برناباس د اختلافاتو ذکر کړے دے اګر کۀ نوي عهدنامه خو دا وجه نۀ ښيي خو له قياسه بعيده نۀ ده چې د انجيل برناباس ليکونکے يوسف لاوي المعروف په برناباس وي چې د حضرت عيسيٰ عليه السلام په وړومبو اصحابو کښې وۀ او ډير تبليغي سفرونه ئې کړي وو. او د دۀ او د سينټ پال د اختلافاتو وجه د برناباس د سينټ پال او د هغۀ د ډلې د غير اسلامي افکارو او اعمالو برخلاف احتجاج وي. تر څو چې د مسلمانانو په انجيل برناباس کښې د تحريف کولو سوال دے نو دغه خبره هم پورتني دليل سره رد کيږي ځکه چې هغه قسم خبرې چې د اسلام نه د منحرف کېدونکو نصاريٰ ؤ په نزد د بدې عقيدې او ګمراهي مترادفې دي (معاذ الله) له اوله پکښې موجودې وے. او هم له دغه قبله ئې پوپ ګلاسئس لوستل منع کړي وو. او د انجيل برناباس د دې ترجمې چې په اطالوي، هسپانوي او انګريزي ژبو کښې شوي دي نصاريٰ ؤ هغه هم غيبې کړے دي. ۱۹۰۷ء کښې چې کومه انګريزي ترجمه آکسفورډ کليرنډن پريس کښې چاپ شوې ده اوس نايابه ده او صرف فوټو سټيټ ئې په اکسفورډ کښې شته. په حقيقت کښې مسلمانان خو له دې انجيله هډو خبر نۀ وو او وړومبې ځل ترې پادري سېل د حاشيو په ذريعه خبر شو. دا ضروري نۀ ده چې دا انجيل هو بهو هم هغسې پاتې شوے وي لکه چې برناباس ليکلے وۀ. او ممکنه ده چې ګوتې پکښې وهلے شوے وي. خو په هر حال دغه انجيل د اسلام او د آخري او ټولو نه لوئے داعي ﷺ د صداقت ئې يو داسې دليل دے چې پادريان صاحبان ئې ډير پريشانه کړي دي.

تر اوسه چې په پيش ګوئي کښې د موعود دپاره په طور د نوم استعمال شوي لفظ په حقله چې د هغۀ بابرکته ذات د شخصيت او صفاتو نشاندهي ترې مقصود ده و مونږ څۀ ووې

نو باید چې په بنا ئې وواېو چې حضرت عیسیٰ علیه السلام د هغو ارشاداتو کولو په وخت چې کوم مونږ ته د یوحنا د انجیل د شپاړسم باب د یوې برخې په شکل کښې لکه چې بره نقل شول رارسیدلي دي د راتلونکي مبارک وجود دپاره هم د احمد لفظ یا ئې د دغه مبارک نوم په خپله ژبه کښې مروج بالکل هم معنیٰ لفظ استعمال کړے وۀ. لکه چې د قرآن مجید ارشاد دے

"وَ اِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَ مُبَشِّرًا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ" (الصف ٦١:٦) یعنې او چې کوم وخت عیسیٰ د مریم زوی ووې په بني اسرائیل تحقیق زۀ تاسو لره د الله رسول یم له توراته د هغۀ څۀ چې زما په مخکښې دي تصدیق کوم او زیرے در کونکے یم له ما د پسه د یو راتلونکي رسول چې نوم ئې احمد دے نو هر کله چې هغه سره د ښکاره دلیلونو راغے نو دوی ووې چې دا (خو) ښکاره جادو دے.

دلته دا نکته یاد ساتل پکار دي چې تورات د تصدیق دا تقاضا هم ده چې د هغه رسول بشارت ورکړے شي چې د جناب عیسیٰ علیه السلام نه پس راتلونکي وو او په حقله ئې په تورات کښې بشارتونه موجود وو نو آنجناب علیه السلام یو خو په حیثیت د تورات د مصدق او بیخپله هم د الله تعالیٰ له طرفه په دې باب د مامور کیدو له قبله د رسول اعظم محمد مصطفیٰ احمد مجتبیٰ ﷺ مبشر وۀ. صل الله علیٰ محمد و علیٰ مبشر بهٖ وسلم. د حضرت مبشر یعنې جناب عیسیٰ علیه السلام د دې دنیا نه د تشریف وړلو نه پس چې د تحریف سلسله په انجیل کښې شروع شوه نو په یونانی ترجمه کښې وروسته خو مشتبه الفاظ داخل کړل شول او بیا هغه هم په نورو الفاظو کښې بدل کړل شول. خو د آنجناب علیه السلام د ارشاداتو د موضوع د یوې برخې تقاضا څۀ د دې قسم وه چې متبادلو الفاظو هم د هغۀ موضوع سره د سمون له قبله په حقیقت پرده وانۀ چولے شوه. هر کله چې راتلونکے به خلق د زیری ورکونکي په باره کښې ملامتوي او چې کومې ناسازې د آنجناب علیه السلام او د هغوی د والدې ماجدې په حقله کفارو ناپکارو ونیلے وے د هغو تردید به کوي او د آنجنابؑ صداقت معصومیت او رسالت او د بي بي صدیقې عصمت او عفت به ثابتوي نو باوجود د اصل لفظ د بدلولو محرفانو د مددگار، وکیل، شفیع، اطمینان بخښونکي غوندې الفاظ په پیش گویی کښې داخل کړل. حال دا چې د احمد نوم او د راتلونکي د نبوت او رسالت منصب د پیش گویی ټول موضوع لره کفایت کوي. د خدائے د هر یوۀ پیغمبر دا وظیفه وه چې د خدائے حمد وکړي د هغۀ پاکي او بزرگي بیان کړي د حق حمایت او د باطل مخالفت

خدائے وکړي د خدائے مخلوق له ښدو واړوي او ښو ته ورله مخه کړي. د خدائے احکام او اوامر د هغهٔ په زمکه او دغسې د هغهٔ او د مخلوق ترمينځه ئې تعلق قائم کړي او د هغه هادي برحق منصب چې احمد وهٔ چې له هر چا زيات د خدائے حمد کونکے وهٔ او په عوض کښې ئې له هر چا زيات تعريف او توصيف او مدح او نعت کيدونکے د مکمل حق او د کامل هدايت د لارې ښودونکے او تل تر تله په عالم انسانيت کښې وسيدونکے وهٔ له هر چا زيات د هغو خبرو مقتضي وهٔ چې د وړومبو انبياء عليهم السلام په وظائفو کښې شاملې وے د حق حمايت او د باطل په مخالفت کښې د اهل حق حمايت او د اهل باطل مخالفت او خصوصاً د سابقو انبياؤ تصديق او حمايت او د هغوي د مخالفينو تکذيب او مخالفت شامل دي. د هغو الزاماتو او بهتانونو رد چې منکرانو يا نا اهلو امتيانو په دغو انبياؤ لګولي وو. اوس سوال دا پاتې شو چې دغه مبارکه هستي چې حضرت عيسيٰ عليه السلام ياده کړې ده چې پس له هغوي به راځي (او د قرآن الفاظ هم دا دي چې "يأتي من بعدي" د چا ده؟

پادريان صاحبان وائي چې دغه موعود هستي روح القدس وهٔ چې د آنجناب عليه السلام له دنيا نه د تشريف وړلو نه لس ورځې پس په حواريانو د پنځتي کوست د ميلې په موقع نازل شوے وهٔ. اول خو دغه نزول تاريخيت نهٔ لري خو کهٔ له تاريخي ثبوته قطع نظر وهم منو چې په دغه ورځ روح القدس په حواريانو نازل شوے وهٔ او د هغو قسم قسم ژبې وے او خبرې ئې کړے چې د هر قوميت خلق پرې پوهيدل او بيا پطرس وعظ وکړو او دريو زرو خلقو پرې ايمان راوړو لکه چې په نوي عهدنامه (نامهٔ اعمال) کښې کښلي دي. خو بيا هم مونږ وينو چې سره د دې معجزې په حواريانو کښې د عقائدو اختلاف وهٔ او هغوي هم هغسې يتيمان نه يتيمان وو. او د موعود په حقله پيش ګوئي کښې ونيلي شوي دي چې هغه به تل تر تله تاسو سره وي. او هغه به روح حق وي چې د مکمل حق تعليم او تلقين به کوي. د مکمل هدايت لاره به درښيي. روح القدس خو په حواريانو کښې يو معلوم او معروف تصور وهٔ او لکه چې د نوي عهدنامې نه ښکاري د آنجناب عليه السلام په دې دنيا کښې د قيام په دوران کښې هم په حواريانو نازل شوے وهٔ. نو بيا دلته د يوې غير معروفې اصطلاح روح حق د استعمال څهٔ ضرورت وهٔ.[په باب ۱۴ : ۱، ۲) کښې خو د نوي عهدنامې اردو ترجمه لاهور ۱۹۲۶ء کښې هم د روح حق الفاظ دي خو په باب ۱۵ : ۱۶ کښې د روح القدس الفاظ دي چې د انګريزي ترجمې خلاف دي.] هم د دغه فارقليط او روح حق چې د نظر د لاندې پيش ګويي (يوحنا باب ۱۶) کښې ئې په حقله ونيلي شوي دي چې څو زهٔ لاړ نهٔ شم هغه به درله نهٔ راځي. په باب ۱۴ : ۱۶ کښې ئې په باره کښې ونيلي شوي دي چې زهٔ به له پلار خواست کوم چې

تاسو لره يو بل فارقليط دركړي يعنې يو بل فارقليط درله راوليږي چې تل تر تله درسره وي. دنيا ئې نۀ شي حاصلولے ولې چې وينې ئې نه. نۀ ئې پېژني خو تاسو ئې پېژنئ او تاسو سره اوسي او تاسو کښې به وي. دا معنې لري چې نور وګړي دهاره به د هغۀ پېژندل او د هغۀ د پيغام متحمل کيدل ځخو دشوار وي خو تاسو خو د هغۀ په حقله بشارت لرئ. داسې در پيژندلے شوے دے چې ګوندې اوس هم درسره دے .او بايد چې په قبلولو کښې ئې تاسو لره هيڅ باک او اړکه نۀ وي. هغه اخري پيغمبر دے نو تل تر تله به هم هغه تاسو سره وي او بيا په دې لړ کښې د ۱۵ : ۲۶، ۲۷ مضمون خاص د غور وړ دے. "چې فارقليط راشي چې زۀ به ئې تاسو لره د پلار له لورې درليږم هغه روح حق چې له پلاره دے هغه به زما تصديق کوي Testify me زما پحقله به ګواهي لي او تاسو به هم ګواهي لئ ځکه چې تاسو ما سره له ابتدا وسيدل ياست، تاسو به هم ګواهي لئ." تاسو ته حکم دے چې تاسو د هغۀ تصديق وکړئ او چې څۀ هغه وخت هغه وائي د هغۀ په صداقت ګواهي وکړئ. له دغو ټولو ارشاداتو ښکارېږي چې روح حق او فارقليط له جناب مبشر حضرت عيسیٰ عليه السلام بيل شخصيت دے. لا عملاً ورکړے شوے نۀ دے ورکړے کيږي به لا عملاً راليږلے شوے نۀ دے راليږلے کيږي به. کۀ ترې مراد کوم موعود نه بلکې روح القدس وي چې حواريانو سره وۀ نو د يو بل فارقليط د راليږلے کيدو د دې خبرې څۀ مطلب چې ځو زۀ لاړ نۀ شم هغه به نۀ راځي. ځو پورې چې د يو بل تعلق دے نو دا توري فارقليط سره په ۱۴ : ۱٦ کښې خو استعمال شوي دي خو په ۱۵ : ۲٦ ،۲۷ کښې نشته بيا حضرت عيسیٰ عليه السلام د فارقليط هغو صفاتو سره چې په ديو ځايونو خصوصاً ۱٦ :۱۷ کښې راځي نۀ خو چرته ځان ياد کړے دے او نۀ دغه صفات د هغوي حالاتو سره سمون خوري. او کۀ بالفرض دا توري يو بل فارقليط سره هغوي استعمال کړي هم وي نو مطلب ئې دا کيدے شي چې هغه فارقليط چې حمد و ثنا او تعريف او توصيف به ئې له ما او هر چا زيات وي چې مکمل حق ښکاره کونکے او د بشپړ هدايت د لارې ښودونکے به هم هغه وي. او بيا چې پنځتې کوست د ميلې په موقع روح القدس نازل شو نو دنيا ئې د نيکى او ګناه او عدالت په باره کښې څنګه قصور واره وګرځوله او د پنځتې کوست د ميلې په موقع چې د نزول نه پس تلے دے نو بيا کله هميشه دهاره د جناب عيسیٰ عليه السلام منونکو سره پاتې شوے دے نو پادريان صاحبان به وائي چې روح القدس هميشه دهاره منونکو سره دے. او باطني طور سره د جناب حضرت عيسیٰ عليه السلام حمايت او د منونکو اصلاح او هدايت کوي.

يو خوا پادريانو صاحبانو دا بې دليله او بې ثبوته دعوىٰ او د تخيل په راکښلو شوۀ

تنـاوونـو جـوړ تاويلونه او بل خوا يو تاريخي حقيقت. د يو داسې تاريخي هستي ظهور چې نهٔ صـرف د اديـان عـالـم پـه داعيانو کښې ټولو نه زياته تاريخي هستي ده بلکې چاته د خپل مور پـلار بـلـکـې د خپل ماضي متعلق هم دومره معلومات نهٔ شي حاصليدے لکه د دغې مبارکې او مـنـورې هستـي رسـول اعـظـم حـضـرت محمد مصطفيٰ احمد مجتبيٰ ﷺ په حقله. نور خو پـريږدئ څومره عيسايان يا نصاريٰ دي چې د روح القدس نزول محسوسوي يا شعور ئې ورته کيـږي. او ديـخـوا نـهٔ صـرف د حـضـرت رسـول اعظم ﷺ امت (چې نننی ګڼه ئې يوازې د پـنـخـوسـو شپېتـو کروړو خواؤشا ده) د خپل هادي برحق د تعليم له فيضه او برکته حضرت عيسيٰ عليه السلام لکه د نورو ټولو پيغمبرانو منې د هغوي د رسالت، صداقت، معصوميت او وجاهـت او د هـغوي د صديقې مور بي بيؒ د عصمت او عفت او برګزيدګۍ قائل دي. بلکې هـغـوي تـه چـې پـه رسول اعـظـم ﷺ ئـې ايـمـان نهٔ دے راوړے کهٔ يهود او نصاريٰ دي کهٔ هـنـدوان، سـکـهـان، بـدهـ، جين دي او کهٔ پارسيان او کهٔ له مذهبه سروپ منکر دي هم ورته معلومه ده چې حضرت رسول اعظم ﷺ هم دغسې د حضرت عيسيٰ عليه السلام او د هغوي د صديقې مور بي بيؒ حمايت او صفائي کړې ده لکه چې د بحث لاندې پيش ګويۍ کښې بيان شـوې ده. او د هـغـو غـلطو، ټولو باطلو او دروغو خبرو نه ئې آنجناب عليه السلام بري کړې دي چې ګـمـراهـو او نـا اهـلـو مـنـونـکو ئې ورپورې تړلے وے لکه د ابنيت تثليث او کفاري عـقـيـدې. او د هـغـو ټـولـو الزاماتو رد ئې هم کړے وهٔ چې په نورو انبياؤ عليهم السلام لګولې شـوې وو هـم حـضـرت محمد رسول الله ﷺ دي چې دنيا ته ئې مکمل حق او د هدايت لاره وښوده. تراوسه ټول عالم انسانيت لره د هدايت دپاره ورسره دي. او هميشه به وي ځکه چې هـغـوي لـه ټـولـو لوے او اخري نبي او رسول دي قرآن چې هغوي لره ورکړے شوے وهٔ د الله تعاليٰ عظيم ترين او اخرين پيغام دے.

پـه پيـش ګـويۍ کښې بله د غور وړ خبره دا ده چې د موعود عليه الصلوٰة والسلام په حقله وئيلې شوې دي چې د ځانه به څهٔ نهٔ وائي بلکې هم هغه به وائي چې څهٔ له خدايه آوري او د آئـنـده خبـرونـه بـه ورکوي. سوال دا دے چې نعوذ بالله کهٔ د الله، روح القدس او د حضرت عيسيٰ عليه السلام هم هغه تعلق وي چې کوم نصاريٰ بيانوي نو دغه درې واړه خو نعوذ بالله په يـو وخـت يـو ذات او بيـل بيـل ذاتـونه هم دي او په يو وخت بيل ذاتونه او هم يو ذات دي. په دريو کښـې يو يا په يو کښې درې نو د روح القدس په حقله د دې ويلو څهٔ ضرورت وهٔ چې هغه به له ځانه څـهٔ نـهٔ وائي بلکې چې څهٔ آوري هم هغه به وائي. او بيا دا چې روح القدس خو بايد لکه چې د نـصـاريٰ ؤ عـقيـده ده هر څهٔ له خدايه اوريدلي دي په آئنده کښې له خدايه د اوريدو او

نورو ته د وئيلو څۀ ځائے. آيا کۀ روح القدس باوجود د عيسايانو د تثليث د عقيدې هم له خدايه اورې نو آيا چې هغه څۀ د حضرت عيسيٰ عليه السلام په حقله وکړې ته ويونکے وۀ له اوله اوريدلي نۀ وو او وئيلي ئې نۀ وو. حقيقت خو دا دے چې د حضرت عيسيٰ عليه السلام دغه ارشاد هم د هغه وجود باوجود عليه السلام په حقله دے چې د چا په باره کښې موسيٰ عليه السلام بشارت ورکړے وۀ. چې هغه به هم هغه څۀ وائي چې څۀ ورته خدائے وائي. او کۀ نه له ځانه ئې څۀ ووې نو قتل به کړے شي. او په قرآن کښې ئې په حقله هم ارشاد دے چې ما سيوا له وحي الٰهي له ځانه څۀ نۀ وائي او کۀ وې وئيل نو د ژوند رګ به ئې پريکړے شي. حضرت عيسيٰ عليه السلام خو نصاريٰ ولګيدۀ د کفارې د عقيدې د برابرولو دپاره ئې په صليب هم وخيژولو او په صليب ئې د هغو مبارکو عليه السلام قتل هم ومنلو خو آيا د روح القدس د قتل کيدلو احتمالات او امکانات هم شته؟

بيا دا چې پښتې کوسست د ميلې په موقع د نزول په وخت د روح القدس حواريانو د مستقبل کوم خبرونه ورکړل او يا له هغه پسه عيسايانو ته کومې کومې پيش ګويي وکړې؟ په عکس د دې مخبر صادق حضرت رسول اعظم محمد مصطفيٰ احمد مجتبيٰ ﷺ ډيرې پيش ګويي فرمائيلي دي مثلاً هغه وخت چې په ظاهره بې يار ومددګار له مکې معظمې هجرت کونکي و مدينې منورې ته روان، يو ورسره خپل الله تعاليٰ او بل ورسره خپل صديق او يار غار ابوبکرؓ وۀ سراقه بن مالک بن جعشم ئې تعاقب وکړ او د هغو مبارکو په خوا کښې دوه ځله پريوت او عفوه او امان ئې وغوښت نو آنحضرت ﷺ ورته ووې چې ستا په لاسونو کښې ماته د کسريٰ وښي ښکارې او لکه چې پيش ګوئي فرمائيلې وه ايران فتح شو او د کسريٰ وښي حضرت فاروق اعظمؓ په موجب د ارشاد رسالت مآب سراقهؓ ته ورکړلے. د حضرت سرور کائنات عليه الصلوٰة والسلام له ګڼ پيش ګويو يوه بله عظيمه پيش ګوئي هغه ده چې د الله جل شانه په امر هم د هغۀ په کلام کښې دنيا ته کړې ده. په ۶۰۲ عيسوي کښې د ايرانيانو او روميانو د زړې دښمنۍ په سلسله کښې يو بل وړد جنګ ونښتو د خسرو ثاني (پرويز) فوځونو شام او ايشيائے کوچک تالا ترغه کړل او په ۶۰۸ عيسوي کښې ئې په کيلسيډون پيش قدمي وکړله. په ۱۴–۶۱۳ عيسوي کښې ايراني جرنيل شاها براز دمشق او بيت المقدس قبضه کړل. او مقدس صليب ئې هم ځان سره يوړو. او لږه موده پس ايرانيانو مصر هم فتح کړو چې د ايرانيانو د دغو فتوحاتو خبرونه مکې ته راورسيدل نو قريشو ډيرې خوشحالي وکړے او وئيل ئې چې زمونږه وروڼو آتش پرستو ايرانيانو د مسلمانانو ورونه اهل کتاب ووهل او (نعوذ بالله) مسلمانان به هم زمونږ له لاسه هم دغسې خوارېږي. دغه وخت

غالباً چې کال ۶۱۵ ء یا ۶۱۶ ء وۀ نو الله جل شانه خپل رسول مقبول ﷺ ته وحي وکړه چې "الٓـمّٓ () غُلِبَتِ الرُّوْمُ () فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَ هُمْ مِّنْۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ () فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ () لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَ مِنْۢ بَعْدُ ؕ وَ يَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ () بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ هُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ()" (الروم ۳۰: ۱ ـ ۵)

ترجمه : آلٓمّٓ . رومیان غالب شول په یوه نزدې زمکه (یعني حجاز ته نزدې ورسره لګیدلي ملک)کښې او د دې مغلوب کیدو نه پس به هغوي زر غالب شي په څو کلونو کښې، حکم اول او اخر هم الله لره دے او دغه ورځ به مؤمنان خوشحالي کړي د الله تعالیٰ په مدد او هغه چې ئې له چا خوښه وي مدد کړي. او هغه غالب ډیر مهربان دے.

دغه وخت د قرآن حکیم دغه اعلان د ظاهري اسبابو او قرائنو بالکل خلاف وۀ. په دغه اعلان حق کښې خو یو خوا د رومیانو د ذلت آمیز شکست او انتهائي ابترحالت نه پس په ایرانیانو د غالبیدو او بل خوا په ظاهره د بې سروسامانه مسلمانانو په قریشو د فتح بشارت دے. د دې اعلان قریشو خصوصاً ابي بن خلف په ډیر زور انکار وکړ و او وې وئیل چې داسې هیڅ کله نۀ شي کیدے. حضرت ابوبکر صدیق ؓ چې د قریشو خبرې واوریدے نو د رسالت د بارګاه هغه خاصه خاصان چې غر له خپله ځایه خوزیدونکے وۀ خو نه د هغۀ ایمان د الله تعالي د وحي، وفرمائیل چې دا به ضرور کیږي او کۀ په دریو کالو کښې دا ونۀ شول نو زۀ به درلره (ابي لره) لس اوښان درکړم ګنه تۀ به راله لس اوښان راکوے. حضرت رسالت مآب ﷺ چې له دغه شرطه خبر شول نو وې فرمائیل چې د "بضع" لفظ په تر انۀ پورې عدد راځي. تر دې میعاد او شرط زیات کړه. (د حضرت صدیق اکبر ؓ دغه شرط په عامو شرطونو کښې نۀ راځي ځکه چې په عامو شرطونو کښې د یو فریق موقف هم یقیني نۀ وي او د آنجناب ؓ کامیابي د وحي الٰهي په وجه یقیني وه) ابي دا خبره ومنله. او د انو کالونو دننه هم په هغه ورځ چې الله تعالیٰ د بدر مقدسه غزا کښې مسلمانانان بریالي کړل.... د رومیانو د فتح او ایرانیانو د شکست خبر هم راغلو. قیصر نۀ صرف خپلې علاقې له کسریٰ بیرته واخستے بلکې د ایران په حدودو کښې داخل شو. د ابي بن خلف وارثانو د هغۀ وعده پوره کړه او د زیات شوي شرط مطابق سل اوښان ئې حضرت صدیق اکبر ؓ ته ورکړل. چې هغوي د خپل آقائے نامدار په حکم صدقه کړل.

ځنو عیسایانو لکه د قرآن مجید یو مترجم روډویل Rodwell د خپل تعصب نۀ صرف مضحکه خیز بلکې حماقت آمیز اظهار کړے دے او وائي چې هر کله په قرآن اعراب پسته لګولي شوي وو نو مونږ "سیغلبون" "سَيَغْلِبُوْنَ" هم او "سَيَغْلَبُوْنَ" هم لوستلے شو.

او په دویم صورت کښې به ئې معنیٰ دا وي چې د شکست خوړلو نه پس به شکست خوري لکه چې مولوي محمد علي صاحب وائي علاوه د دې خبرې د بدیهي لغویت نه دا دې دپاره هم محض غلطه او نامعقوله ده چې داسې حال کښې خو د "یفرحون" په ځائې "یحزنون" پکار وهٔ او قرآن فرمائي چې مؤمنان به خوشحالي کړي (یفرح المؤمنون) نه چې خفگان به کړي. په "یفرح" (خوشحالیږي به) او "یحزنون" (خفه کیږي به نولیږي به) کښې خو د اعرابو تبدیلي د معنیٰ هغه تبدیلي نهٔ شي راوستے چې روډویل ورته اشاره کوي. بیا اخر د ابي بن خلف او د حضرت صدیق اکبرؓ تر مینځه به د شرط لگیدو نوبت کله راتلو. (وګورئ د حضرت مولانا شبیر احمد عثماني صاحب مرحوم فوائد او د مولوي محمد علي انګریزي ترجمه او تفسیر).

اګر کهٔ لکه چې تاسو ولیدل پادریان صاحبان په پیش ګویۍ د پردې اچولو په غرض والي چې د فارقلیط نه مراد څوک راتلونکے موعود نه بلکې روح القدس دے خو د یوهٔ نه زیاتو کسانو د فارقلیط کیدو دعوې کړي دي.

د روح القدس او د جناب عیسیٰ علیه السلام په حقله چې پادریانو صاحبانو کومې خبرې وضع کړي دي هم د هغو خو نتیجه ده چې د عیسیٰ علیه السلام تائید او مرسته خو لا سو طرف ته چې په امت کښې ئې د ګمراهانو یوه داسې ډله هم پیدا شوه چې د هغو مبارکو د ,جود باجود نه ئې بالکل انکار وکړو او وې وئیل چې عیسیٰ محض یو خیالي او مثالي شخصیت دے. په داسې ګمراهانو کښې د ایل جي رے لینډز کتاب په ۱۹۳۵ ء کښې واټس ینډ کو لندن د Does Jesus ever live(آیا عیسیٰ چرې ژوند کړے وهٔ؟) د عنوان لاندې عاپ او نشر کړے دے. رے لینډز په پیش لفظ کښې خپل همنوا پیشروان ډبلیو بي سمتھ، رتھر ډریوز، ایډورډ ډوجارډن او ایډورډ کالتاف یاد کړي دي د داسې کسانو چې د اکثریت ه نزد ئې حضرت عیسیٰ علیه السلام محض یو افسانوي (نعوذ بالله) شخصیت وهٔ یو فهرست سواجه کمال الدین صاحب قادیاني د خپل کتاب Sources of Christianity (ینابیع مسیحیت) په دیباچه کښې هم ورکړے دے چې نامې ئې دا دي: رچرډ ټیلر انګریز، نورک سرمن، ډوپوے فرانسوي، په زړو لیکوالو کښې، او د مؤلف د زمانې لیکوالو کښې جے ایچ ابرټسن، جین هیرنګټن، ډاکټر فریزر، جے ډي پارسن او ایډورډ کارپنټر.

باید چې د پورتني بحث د لوستلو نه پس د یو غیر متعصب نصراني په زړهٔ کښې هم ک پاتې نهٔ شي چې د یوحنا د انجیل د شپاړسم باب دغه پیش ګوئي د حضرت محمد مطفيٰ احمد مجتبيٰ ﷺ په حقله ده.

پـه تـورات، انـجيـل، زبـور او د زړې عهـدنـامې په نورو صحيفو کښې هم د حضرت سـرور کـائـنـات ﷺ پـه شـان کښـې ډيـر نور بشارات هم شته خو ما په قرآن حکيم کښې د نـومولو شوؤ کتابونو نه په يو يو بشارت اکتفا وکړه. البته هغه بشارتونه له ډيرو علاوه دي چې د حضرت ابراهيم، حضرت اسماعيل عليهما السلام او حضرت بي بي هاجرې د مبارکو حالاتو په ضمن کښې ئې ذکر شوے دے.

اوس مـونـږ د حـضـرت سـرور کـائنات په حقله د څنو نورو مذاهبو د مقدسو کتابونو پيش ګويي څيړو او جاج ئې اخلو.

د ويد پيش ګوئي:

ويـد د هـنـدوانـو مـقـدس کـتـاب دے چې هغوی ئې الهامي ګڼي او په څلورو کتابونو رګ ويـد، اتهـر ويد، يجر ويد او سام ويد مشتمل دے. په ويد کښې هم د حضرت سيد الانام ﷺ په حقله بشارتونه شته چې په عام طور د نمونې يو څو لاندې کښل شي:

"پـه خـلقو په احترام واؤرئ ستائيلے شوے به ستايۀ شي په شپيتو زرو او نوي دښمنانو کښې دا مهاجر (يا امن ويرونکے) مونږ په خپل حفاظت کښې اخلو."

"دۀ مـامحے رِشي لره سل ديناره، لس اميلونه، درې سوه عربي اسونه، او لس زره غوا ورکړے."

"اے د ربنتيـنـو ربـه دغـو خـوشحالونکو خوشحاله کړے، د دښمن په جنګ کښې د ميـرانـې دغـو کارونو او مستانه نارو، کوم وخت چې ستايونکي عبادت کونکي لره تا لس زره دښمنان بې مقابلې مات کړل."

"يـه يـو بـې يـاره او مـددګـاره سره (مل) خدايه تا د دغه خلقو شل سرداران او (دغه) شپيتـۀ زره انـۀ نـوي دښـمنان (خلق) د خپل نۀ مسخر کيدونکي جنګي ګاډي د پير لاندې دل کړل."

(پـه ميثـاق الـنبيين جلد اول ص ۵۱، ۵۲، ۵۷، ۵۸، او ۹۰ کښې د اتهر ويد اقتباس او ترجمه)

د اتهـر ويـد پـه دغـو اقتبـاسـونـو د مفصل بحث دپاره بايد چې کتاب ميثاق النبيين ته رجـوع وشـي. زۀ د مؤلف د تحقيق او تقرير خلاصه مطلب سره د هورې دلې يو څو وضاحتي خبـرو عـلاوه کـولـو بيـانـوم. د مـوعـود ذکـر په بيل بيل شان "نراشنسه" يعنې ستائيلے شوے تـعـريف او توصيف کړلے شوے، محمد، مامحے يا مامح يعنې ډير ستوده (ډير ستائيلے شوے) او بـرګـزيـده . مـحـمـد راغـلـے دے او هم ورته ډير ستايونکے او نمانځونکے مکاروے احمد

وئيلي شوي دي.

دلتـه د ياد ساتلو له اهمو خبرو يوه دا ده چې د هندوستان په رشيانو (خدائي كسانو او هـاديـانو) كښې د چا نامه مامحے يا مامح نۀ ده راغلے. تر څو چې د ستائيلي شوي آئنده هم تل تـر تـلـه د ستـائيـلـے كيـدو تعلق دے نو لكه چې مونږ ته او دنيا ته معلومه ده او مونږ د زبور په بشـارت د بحث په دوران كښې هم وليدل چې په حضرت سرور كائنات ﷺ تل دعا ده. تل پرې سلام، تحيت صلوٰة او بركت وئيلے كيدے شي. او په ځلور كنجه دنيا كښې. په هر كُټ كښې ئې په جگه ناره د ورځې پينځۀ وخته له سحره تر نماسخوتنه د رسالت گواهي كيږي. له دې نـې ستـائش د شان عظمت او د ذكر رفعت ښكاره دے. او دا به ولې نۀ كيدل او ولې به تر ابده نۀ كيږي چې د خپل رب وعده ئې ده "وَ رَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ"

د موعـود عليه الصلوٰة والسلام له خصوصياتو څخه په دغو بشارتونو كښې يو دا بيان شـوے دے چې شپيتۀ زره دښمنان به ئې وي لكه چې د ميثاق النبيين مؤلف د "مثل الكامل" په حوالـه ليـكـي د مكې معظمې ابادي د حضرت رسالت مآب ﷺ په وختو كښې د شپيتو زرو خـواؤشـا وه. (جـلـد اول ص ۵۴ حـاشيه) بيا د دغو شپيتو زرو عالمو سرداران شل كسان ياد شـوي دي او لكه چې هم د مثل الكامل په حواله مؤلف ليكي د قريشو به شل سرداران وو چې انتـخاب به ئې كيدو او د مكې معظمې او د كعبې شريفې محافظت به ورسپارلے شو (ص ۹۰) د حـضـرت سـرور كائنات ﷺ والد ماجد ئې د ولادت باسعادت نه وړومبے وفات شوي وو. والـده مـاجـده او جد امجد ئې هم د هغو مبارك د عمر شريف په ډيره ابتدائي مرحله كښې له دې دنيا نه تير شول. او دې كښې د الله جل شانه عظيم حكمت وۀ هم له اوله ئې هغه نگران او نـگهبـان وۀ. دا يتيـم پـه ظاهره بې ياره او مددگاره مبارک له ابتدا نه د خپل رب په پناه كښې وۀ. لـكـه چې پـه قرآن كښې ارشاد خداوندي دے "الم يجدك يتيماً فاوىٰ" (۹۳ : ۶) او د شپيتـو زرو كسـانـو او د هـغـوي د شلو سردارانو په مقابله كښې چې دغه يو مبارک انسان په ظـاهـره بې يـار او مـددگار ودريدلي وو او د دغو زرگونو د كجروى له قبله ئې له خپله ښاره مـكـې معظمې نه مدينې منورې ته هجرت كړے وۀ. پس له اتو كالو نه د الله په فضل او مدد په حيثيت د يو مهربان فاتح مكې معظمې كښې داخل شول.

د موعود ﷺ بل صفت كورم بيان شوے دے چې يوه معنيٰ ئې هجرت كونكے او بله د امن ويـرونكے ده. د حضرت سرور كائنات ﷺ هجرت عظيمه او مشهوره واقعه ده چې د مسـلـمـانانو كيلنډر هم په دغې واقعې بنا لري. تر څو چې د دويمې معنې تعلق دے نو د اسلام معنيٰ هـم سـلامتيا او امن ده. خدائے تعاليٰ ته په بشپړ طور او هر شان ځان سپارل. هم د هغۀ

عبـادت او په هر رنګ اطاعت کول. او د هغهٔ په سلامتيا او امن کښې راتلل او د هغهٔ په زمکه د هـغـهٔ حـکـم نـافـذول او دغـسـې عـدل، انصاف او مساوات سره د امن او سلامتيا قائمول او وېرول دي. د فساد په ځائے اصلاح راوستل دي. د مهاجر او د امن د شهزاده موعود د خدائے تـعـالـیٰ په حفاظت کښې اخستلے کېدل هم ظاهر دي. د هجرت په شپه چې د امن شهزاده له خپلې دولت کدې بهر ته تشريف راوړو نو د قريشو راکښلے توري په لاس نيولے پهره داران چې د هـغـهٔ سرور ﷺ د شهيدولو په نيت راغلي وو حق تعالیٰ راندهٔ کانهٔ کړل او آنحضرت ﷺ ئې تري په خپل حفاظت کښې واخستل. بيا هغه وخت چې د امن شهزاده او ملګرے ئې صـديـق اکبـرؓ لا پـه غـار ثـور کښـې وو چې کفار ئې په لټون د غار تر خلې ورغلل نو حضرت صـديـق اکبـرؓ د خپل محبوب هادي برحق ﷺ دپاره فکرمن شول. چې هسې نه کفار ئې دلته له موجودګۍ خبر شي هادي برحقﷺ ورته لکه په قرآن شريف (سورهٔ توبه ۹: ۴۰ ۱) کښې الله پـاک فرمائيلي دي تسلي ورکړه چې "لا تحزن ان الله معنا" يـعنې غم مهٔ کړه الله تعالیٰ له مونږه سره دے. *(لکه چې ووئيل شو د حضرت صديق اکبرؓ غم د خان دپاره نه وو. مولانا حفظ الرحمن صاحب مرحوم د دغې والعصر د بيان په دوران کښې فرمائي چې خوف هغه غم دے چې خپل خان ته د خطرې او نقصان په لړ کښې وي او حزن هغه غم چې په خپل خان د بل د مصيبت او تکليف په وجه وي. (قصص القرآن جلد ۴ ص ۳۶۹)*

کـفـار چې د غـار تـر خـلې ورغلل نو وې ليدل چې پرې جولاګې جاله اچولې ده او لاندې ئې زمکه د ساراني کونترې هګۍ پرتې دي. (وګورئ د مولانا شبير احمد صاحب عثماني مرحوم فوائد) کفار له ناکامه ستانهٔ شول چې له غار ثوره پکښې پس له دريو ورځو د قيامه روان شول نو سـراقـه بن مالک بن جعشم وليدل. هغه ورپسې مسلح په اس سور بې ادبانه روان شو. چې نـزدې ورغـے دوه خـلـه له اسه پريوت او بيا ئې عفوه او امان وغوښت او ستون شو. دغسې په ګڼو ډيرو خطرناکو حالاتو کښې الله جل شانه تل په خپل حفاظت کښې واخستل وې ژغورل لـنـډه دا چې نهٔ صرف د قريشو او د يهودو له دښمنيو او سازشونو بلکې د قيصر او کسریٰ له مـخـالفتونو او ميرځيو باوجود د امن شهزاده د کونينو شهنشاه حضرت محمد مصطفیٰ احمد مـجتبـې ﷺ کـاميـابـه او دښـمـنـان ئـې نـاکـامه او بې مرامه کړل. هغه مبارک ئې وسائل او ميرخمنان ئې ورک کړل.

سـل دينـاره، زر پـارې، د سـرو زرو تـوتې يا ټکرې چې مامحے يا مامح رشي محمد رسول الله ﷺ له ورکړے شوي وو ترې مراد هغه سابقون الاولون دي چې د ابتلا او مصائبو نـه ډک د نبـوت مـکـي دور کښـې الله ورتـه د ايمان دولت او د حضرت رسالت مآب ﷺ

اطاعت او رفاقت سعادت بخښلې وه. او په شمير سل تنه وو چې د قريشو قسماقسم سخت ظلمونه، وهل ټکول، تزنول، تنګول، لوږې تندې، له کور کلي ځانې ځائيګي او خپلو خپلوانو نې بيلتون غرض چې هره ګرانه سخته ئې وزغمله خو اسلام ئې په هر حال زړګي او ځيګر پورې جخت نيولے ولرلو. او لکه چې د خالصو زرو اصليت د اور تاؤ ځرګندوي د دوي د کردار رفعت او د شخصيت عظمت مصائبو او شدائدو ښکاره کړو لکه چې وائي "ادخل الـذهب النار لتظهر جودته من ردائته" يعني زر په اور کښې واچوه چې سره او ناسره ئې وبله ځرګند شي. خوشحال بابا وائي:

کۀ په اور کښې د سرو زرو وښئ پريوزي

عيب نشته په دا کار کښې ئې جلائ ده

هسې خو لکه چې ووئيل شول صحابه کرام رضي الله تعالىٰ عنهم ټول د خدائے پرستئ، راست بازئ بهترينې نمونې او د انسانيت د وچت مقام او لوړے مرام روښانه مينارونه وو. دوي چې د خپل آقائے نامدار حضرت محمد مصطفىٰ ﷺ په پيروى کښې د حق پسندئ او باطل شکنئ په لار او زيار کښې د قربانئ او ايثار کوم مثالي کردار دنيا ته وړاندې کړے او د بنيادم راتلونکو نسلونو ته ئې پريښے دے د مذاهب عالم په تاريخ کښې ئې خواب نۀ دے بيامونديے شوے او نۀ د بياموندلے کيدو دے. دغو په ايمان او عمل، او فکر او قول پاکو سپيځلو، کلکو او ربنتينو بندګانو د خدائے تعالىٰ په فضل او کرم د هغۀ رسول برحق په رهنمائي کښې د خدائے تعالىٰ په زمکه د هغۀ حکومت قائم کړو. او ټول طاغوتي طاقتونه، د شيطان او د هغۀ د ملګرو او پيروانو غلبه او تسلط، ظلم او جور او زور او شور ئې خوارۀ وارۀ او تس نس کړل. نو دغه نفوس قدسيه کښې چې پخپله خدائے تعالىٰ ئې د خوبو تعريف کوي او هم ئې د خدائے تعالي عالي شان رسول ﷺ د شان ستائنه کوي هر يو د هدايت ستورے او د جنت ګل دے خو په ديو نيک بختو انسانانو کښې څومره نيک مرغه او خوش نصيبه وو هغه چونړ کړلي شوي لس کسه چا لره چې په يوۀ وخت په يوۀ مجلس کښې د کونينو سرور ﷺ د جنت خوشخبري ورکړه. او په عشره مبشره (په لسو زيرے ورکړل شويو) مشهور دي. د دغو ډيرو بختورو او مبارکو چونړ کړلي شوو حضراتو اسمائے ګرامي دا دي: (۱) سيدنا حضرت ابوبکر صديق بن ابي قحافه (۲) سيدنا حضرت عمرفاروق بن خطاب (۳) سيدنا حضرت عثمان غني بن عفان (۴) سيدنا حضرت علي المرتضىٰ بن ابي طالب (۵) سيدنا حضرت سعد بن ابي وقاص (۶) سيدنا حضرت زبير بن عوام (۷) سيدنا امين الامت حضرت ابوعبيده بن جراح (۸) سيدنا صاحب الاحد حضرت طلحه بن عبيد الله (۹) سيدنا

حضرت عبدالرحمٰن بن عوف (۱۰) سیدنا حضرت سعید بن زید رضي الله تعالیٰ عنهم. او دغه د جنت هغه لس ګلدستې یا سپېڅلي امیلونه دي چې د هندوانو د مقدس کتاب اتهر وید په پیش ګویی کښې ئې مامحے یا مامح رشي حضرت محمد رسول الله ﷺ ته د خدائے له لوري د وربخښلے کیدو ذکر دے.

د بدر غزوه چې د اسلام په تاریخ کښې کوم اهمیت لري بیان ورته اړ نۀ ده. د بدر ورځ د حق او باطل په مینځ کښې د بیلتون، د حق د سربلندی او د باطل د سرنګونی ورځ ده. دغه مقدسه غزا د هجرت په دویم کال د رمضان میاشت کښې شوي وه. د اصحاب بدر رضي الله تعالیٰ عنهم ګڼه درې سوه دیارلس وه او د درې سوؤ عربي اسونو نه د استعارې په طور عرب مجاهدین مراد دي ځکه چې یو خو اس د هغه زمانې جنګونو کښې خاص اهمیت درلۀ او بیا د اس، عربي اس خپل مالک، بادار سره مینه او پت پالنه مشهوره ده. دا خبره وضاحت ته هیڅ اړې نۀ لري چې په سلګونو کښې کوم کسر راځي هغه اکثر په وینا کښې حذف کړے شي نو غالباً چې د اتهر وید د نظر د وړاندې پیش ګویی کښې د دریو سوؤ دیارلسو په ځائے صرف درې سوه یاد شوي دي.

په وید کښې ګو (غوا یا غوئے) د ہري، ہرش، او زور، فتح، رعب او قوت علامت دے. پرته له دې ګو په هندوانو کښې تر دې حده مقدس او متبرک حیوان ګڼلے شي چې هغوي غوا ته ګئو ماتا یعني غوا ابی وائي. نو د ګو د عطیې نه د هغو لسو زرو جان نثارو او فداکارو نفوس قدسیه ملګرتیا ده چې په اتمه هجری کښې د مکې د فتح په وخت حضرت رسالت مآب ﷺ سره وو او چې بائبل کښې د لسو زرو قدوسیانو په نامه یاد شوي دي. (استثنا ۳۳:۲) او له قیاسه لري نۀ ده چې په وید کښې د هندوانو جذباتو سره سمه د دغو پاکو نفوسو د تقدیس دپاره د "ګو" استعاره پکارولے شوے وي. د دغه بحث په دوران کښې دا هم د یاد ساتلو وړ خبره ده چې وید هم محرف دے نو کیدے شي چې د مضمون اصل الفاظ نور څۀ وي او بیا وروستو چا د خپل ذوق مطابق په نورو الفاظو بدل کړي وي. والله اعلم بالصواب. په هر حال دغه مضمون چې په استعاراتو کښې ئې اظهار شوے دے لکه چې د هادي برحق حضرت محمد ﷺ د مبارک ژوند واقعاتو سره سمون خوري د بل کوم مذهبي مبلغ یا پیشوا د ژوند په سوانحو نۀ چسپانیږي.

د ستاینکي او عبادت کونکي، فارقلیط، احمد ﷺ لس زره دښمنان چې ډلې ډلې (احزاب) د هجرت په پینځم کال په مدینې منورې د چپاؤ کولو دپاره راغلي وو د الله پاک په حکم بې مقابلې او بې جنګه مات او تار په تار شول. الله جل شانه د خپل محبوب او مقبول

رسول ﷺ د امداد دپاره فرښتې راوليږلے او د هوا يو داسې زورور طوفان ئې وچلولو چې د کفارو ډلې ډلې فوځ ئې چې گډه ئې لس زره وه تس نس او خور ما خور کړو او هغوي بې جنگه بې مقابلې وتښتيدل. د کفارو دغې حملې ډير نازک صورت حال پيدا کړے وۀ د گڼې، جنگي سامان او د ټولو مادي وسائلو له رويه کفار ډير طاقت من او توانا وو د مدينې د يهودو بنې نضير ډله خو له وړومبيه د حمله آورو ملگرې وه يوې بلې ډلې بنو قريظه ئې هم مسلمانانو سره قول قرار مات کړو. د منافقانو له لوريه خطره سيوا وه نو له دې سببه چې هسې نه چې له کومه غير محفوظه ارخه کفار په ښار چپاؤ وکړي حضرت رسالت مآب ﷺ د ښاره چارچاپيره د ژغورنې دپاره يوه کنده (خندق) هم د اصحابو په مرسته وکنستله. په دغه نازک وخت کښې چې صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين کوم ايماني قوت ښکاره او چې په کوم صداقت د الله د دين او د هغۀ د رسول عليه الصلوٰة والسلام حمايت او رفاقت کړے وۀ الله تبارک و تعالیٰ ئې پخپله په قرآن مجيد (سورۀ احزاب ۳۳) کښې ستائنه کړې ده لکه چې ارشاد دے: "وَ لَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ وَ صَدَقَ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ وَ مَا زَادَهُمْ اِلَّاۤ اِيْمَانًا وَّ تَسْلِيْمًا () مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَ مِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ وَ مَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا () لِيَجْزِيَ اللّٰهُ الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَ يُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا () " (۲۲ - ۲۴) يعنې او کله چې مؤمنانو وليدلے ډلې وې وئيل دا هغه دې چې مونږ سره ئې الله او د هغۀ رسول ﷺ وعده کړې وه. او رښتيا وئيل الله او د الله رسول ﷺ او (داسې) نور زيات شو د هغوي ايمان او اطاعت او ځنې سړي دي له مؤمنانو چې هغه څۀ ئې چې په حقله ئې وعده کړې وه له الله رښتيا کړل، له هغو ځنو خو خپله منښته پوره کړله او ځنې لار گوري (د پوره کولو) او هيڅ ئې بدل نۀ کړل يو بکس (وشوه دا واقعه) د دې دپاره چې الله رښتينو لره د هغوي د رښتياؤ جزا ورکړي او منافقان وعذابوي کۀ خوښه ئې وي يا ورلره د توبې توفيق ورکړي. حقه ده چې الله ډير بخښونکے مهربان دے. په دغو آيتونو کښې د مسلمانانو د فداکارۍ او جان نثارۍ د جذبې ذکر کونکے الله جل شانه فرمائي چې ځنې خو په دوي کښې د شهادت په وچتو مراتبو فائز شول او ځنې د هغه وخت انتظار کوي چې هغوي هم د خدائے په لاره کښې د ځانونو قرباني ورکړي. رضي الله تعالیٰ عنهم. او په دغو بختورو انسانانو کښې شومره بختور وو هغه فدا کار او جان نثار چې چا لره په ژوندانۀ ئې دا زيرے ورکړے شو "هذا ممن قضٰي نحبه" يعنې دي له هغو دے چې چا خپله منښته پوره کړه. دا مبارک انسان صاحب الاحد سيدنا حضرت طلحه بن عبيد الله رضي الله تعالیٰ عنه وو.. (وگورئ فوائد د مولانا شبير احمد

صاحب مرحوم) الله پاک د دغو پاکو کسانو ساتنه او پالنه وکړه او د ربتينو (صادقين) په نامه ئې وبلل. تاسو وکتل چې په ويد کښې هم چې د دغه نفوس قدسيه د ذکر په وخت خدائے تعالیٰ ته خطاب کيږي نو د صادقانو د رب په نامه مخاطبيږي او ورته وئيل شي چې دغه خوشحالونکو خوشحاله کړے نو بې له سرور کائنات ﷺ په دنيا کښې د کوم مذهبي پيشوا ملګري يا اصحاب دي چې په شان کښې رضي الله تعالیٰ عنهم وئيلے شوي دي وئيلے کيږي او وئيلے کيږي به. صلي الله عليٰ محمد و عليٰ آله وسلم و رضي عن اصحابه اجمعين.

دلته به دا اضافه افاديت او جاليبت لرونکے وي چې مولانا ثناء الله صاحب امرتسري مرحوم په خپله رساله "حضرت محمد رشي" کښې له سام ويده کوم اقتباس ورکړے دے په هغه کښې هم د حضرت سرور کائنات ﷺ د مبارک نوم هم معنیٰ الفاظ دي او د څنو داسې خبرو سره د غزوه احزاب ذکر لري چې د آنحضرت ﷺ مبارک ژوند سره مخصوصې دي. "هغه د هر مقدس دود پالونکے، بارعبه، باسياسته ډير ستائيلے شوے، د کوټونو ماتونکے خوان، پوهه، سره د ډيره قوته پيدا کړلے شوے، تا اے کائے ايښودونکيه، کنده کنستونکيا الخ"

د تفصيل او پرې د بحث دپاره محوله رساله (ص ۳ - ۱۴) وګورئ. زهٔ به په لنډو پا دومره وينا اکتفا وکړم چې هر چا وته معلومه ده چې حضرت رسول مقبول ﷺ د هر منکر نهي او د هر معروف امر فرمائيلے دے. او دغه ئې د امت له وظائفو دي. آنحضرت ﷺ يقينا د هر پاک، ښکلي سپيڅلي رسم او آئين پالنه کړې ده سره د دې چې هغه مبارک ډير شفيق مهربان او خوږ ژبانه وو. خو په مخالفينو ئې رعب او سياست هميشه غالب وهٔ په شپږمه هجرى کښې د صلح حديبيه په موقع چې د قريشو سفير ورلره بيرته ورغے نو ورو ئې ووئيل چې ما د قيصر او کسریٰ دربارونه ليدلي دي خو د محمد ﷺ منونکي چې کوم ادب او احترام د هغهٔ کوي او څومره مينه چې ورسره لري ما بل چرته نهٔ ده ليدلے. حضرت علي المرتضيٰ د حضرت سرور کائنات ﷺ د شخصيت د جلالي او جمالي اړخونو خاکه په ډير حکيمانه انداز او بليغ کلام کښې راکښلې ده فرمائي چې "من راه بديهة ها به و من خالط محبة عشقه" يعني چا چې به هغوي ﷺ ناساپه وليدل نو هيبت به واخستو او چې ورسره به ئې ناستے پاستے وکړو نو پرې به مئين شو. د نامې مبارکې د هم معنیٰ الفاظو نه پس د کوټونو (قلاګانو) د ماتولو ذکر دے او په خيبر کښې د يهودو د قلاګانو تسخيرولو ته اشاره ده. بيا آنحضرت ﷺ د ځوانی، پوهې او قوت ذکر دے او ورته د کائے ايښودونکے وئيلے شوے دي. هغه مبارک ﷺ د پينځو ديرشو کالو وهٔ د ځوانی عمر ئې وهٔ چې قريشو د کعبې د نوې

تعمیر بند بنا وکړه. چې نور کار خلاص شو او د حجر اسود د ایښودو وخت راغی نو یو هغه ذات قدسي صفات او سروپا برکات وه چې د غیض او غضب په طوفان کښې د خپل رب په فضل و کرم د مجسم امن، سکون او اطمینان نمونه وه خو د بل هر چا رنګ تاغیر، سترګې برنډې او پیره بیره شوه ورو ورو خپې بره وختلې تندي غوټه شول او خلو وته څګونه راغلل او لاسونه د تورو لاسو ته ورغلل خو د هغه مبارک وجود له برکته او خاطره خدائے تعالیٰ خیر پیښ کړو او په دې فیصله وشوه چې سبا سحر وختي څوک چې له ټولو وړومبے کعبې ته راغے هغه به په خپل لاس حجر اسود ږدي. بله ورځ چې د قریشو سرداران راغلل نو وې لیدل چې الامین او الصادق له هر چا وړومبے کعبې شریفې ته رسیدلي دي ټولو د آنحضرت ﷺ په موجودګۍ د اطمینان اظهار وکړو او وې وئیل چې دا خو الامین رارسیدلے دے د هغو مبارکو په امر فرمائیلو یو څادر ویړ کړے شو آنحضرت ﷺ په خپل دست حق پرست حجر اسود راواخست او د ویړ کړي شوي څادر په مینځ کښې ئې کیښود او بیا ئې د قریشو سردارانو وته هدایت وفرمائیلو چې د څادر پلوونه ونیسئ او هسک ئې کړئ چې هغو تعمیل وکړو نو آنحضرت ﷺ حجر اسود په خپلو مبارکو لاسونو راواخست او په خپل ځائے ئې کیښود. او دغسې د سرور کونین ﷺ د نیک نیت، امانت، صداقت او دانایي له قبله چې ورته د خپل رب د خاص فضل و کرم په وجه د هغه له طرفه عظیم او بې مثاله عطیات وو هر څوک مطمئن شو. او یوه لویه هنګامه او فساد په امن او اصلاح کښې بدله شوه. دې واقعې طرف ته د اشارې نه پس د هغه قوت او طاقت ذکر دے چې الله پاک خپل محبوب ترین بنده او رسول حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ ته عطا فرمائیلے وه حضرت علي المرتضیٰ د بدر د جنګ د ورځې متعلق فرمائیلي دي چې جنګ په زوررونو شو نو مونږ هم د آنحضرت ﷺ په خوا کښې پناه واخسته. هغه مبارک ﷺ له هر چا زیات زړه ور وه. دغه ورځ د مشرکانو صفونو ته د آنحضرت ﷺ نه زیات نزدې هیڅوک نه وو. د حنین په جنګ کښې چې د هوازن د غشیو باران د مسلمانانو په صفونو کښې غلبله جوړه کړه او ډیر غازیان په وروستو کیدو مجبوره شول نو هغه وخت د کونینو سردار ﷺ سره یو څو جان نثارانو په پخپل ځائے لکه د عزم او استقلال د یو عظیم او پرشکوه غر قائم وو بلکې برابر ئې دښمن لورې ته د تلو دپاره خچر مبارک له پونده ورکوله خو جان نثاران به هر ځل ترمینځه شول دغه وخت د دښمنانو د غشیو رُخ هم ذات اقدس طرف ته وه خو د هغه سرور ﷺ د ثبات پښو مبارکو وته خوزیدلو یا ښویدلو د نزدې کیدو جرأت چرته کولے شو. حضرت براءؓ فرمائي چې حضرت سرور کائنات ﷺ یو بکس قدرې هم له خپله ځایه نه وو خوزیدلي او مونږ هم د هغه سرور

كائنات عليه الصلوٰة والسلام په خوا كښې پناه اخسته او هم هغه به ميړنے گڼلے شو چې د هغه سرور ﷺ په څنګ كښې به ودريدو. د بې مثاله شجاعت جوهر سره حق تعالیٰ ورته قوت او طاقت هم لاثاني وربخښلے وۀ. ابي بن خلف د احد په جنګ كښې په اس سور په حضرت سرور كائنات ﷺ د حملې په نيت د هغو مبارکو طرف ته ورغے. مسلمانانو جان نثارانو وغوښتل چې هغۀ ته ورمخکښې شي خو حضرت سرور عالمين ﷺ منع كړل او د يوۀ مسلمان نه ئې نيزه واخسته او د ابي تر ورميږه ئې وروړه هغه په چغو او نارو سورو بيرته وتښتي. خلقو ورته ووئيل چې دا خو څۀ دومره لوئې پرهار نۀ وۀ ته دومره ويرې ولې واخستے. هغۀ ور ووئيل چې هو خو د محمد ﷺ له لاسه پرهار دے. چې د جنګ احزاب په موقع كنده (خندق) كنستې شوه نو په هغه دوران كښې په زمكه كښې يوه داسې كلكه ګټه ښكاره شوه چې هيچا نۀ شوه ماتولے. آنحضرت ﷺ خبر شول او هغه طرف ته چې هغه ګټه په زمكه كښې ښخه وه تشريف ئې وفرمايۀ. سره د دې چې له دريو ورځو ئې فاقه وه د كودالي په يو ځو ګزاره ئې هغه كاڼے لكه د شګو ريز مريز كړو. رکانه د عربو يو مشهور پهلوان وۀ چې د عكاظ په ميلو كښې ئې هم ډيرې معركې سر كړے وے. يو ځل رسالت مآب ﷺ ته ورتير شو او هغو مباركو راوپرزولو. تر څو چې په پيش ګويۍ كښې د كندې (خندق) د كنستلو د ذكر تعلق دے نو لكه چې تاسو وليدل او د تاريخ هر طالب خبر دے دغه واقعه چې د احزاب جنګ سره تعلق لري د حضرت سرور كائنات ﷺ د مبارک ژوند يوه مشهوره او معروفه واقعه ده او هم د دې له قبله د احزاب جنګ د خندق جنګ هم بللے شي.

د ژند اوستا پيشنګوئي:

"د هغۀ نامه به مهربان فاتح، د هغۀ نامه به ډير ستائيلے شوے وي. هغه به مجسم رحمت وي، هغه به حاشر وي ځكه چې د ټول جهان دپاره به رحمت وي. ځكه چې د كامل انسان او روحاني انسان كيدو له قبله به هغه د ټول وګړي دپاره چې له هلاكته ئې ژغوري مبعوث كيږي. هغه به د مشركانو او ايماندارو د بديو اصلاح كوي." (فروردين يشت ۲۸: ۲۹ په ميثاق النبيين جلد ۱ ص ۳۰ منقول)

د ميثاق النبيين مؤلف په دې پيشنګويۍ تبصره كونكے وائي "په دنيا كښې آنحضرت ﷺ هم يو عظيم الشان نبي تير شوي دي چې د دغه پيش ګويۍ د لفظ لفظ مصداق دي. د هغوي مهربان فاتح كيدل له هغه سلوكه ښكاره دي چې د مكې د فتح نه پس ئې د مكې كفارو سره كړے وۀ. خپل د وينو تږي دښمنان ئې په دې وينا پريښودل "لاتثريب عليكم اليوم" د حضرت نامه محمد، رحمة للعٰلمين، يعني د تمام جهان دپاره رحمت كيدل ئې ځرګندې

خبرې دي. د آنجناب ﷺ نه وړومبي انبياء صرف د خپل خپل قام دپاره رحمت وو. حاشر کېدل چې د چا په قدمونو د دنيا ټول قامونه راغونډ کړل شول او د بت پرستو او خدائې پرستو دواړو ئې اصلاح وکړه. دا هم د آنحضرت ﷺ خصوصيات دي. (جلد ۱ ص ۳۰، ۳۱) [د آنحضرت ﷺ په مبارکو نومونو کښې يو نوم حاشر دے.]

کوم ظلم او ستم، زور او زياتے وو چې د تيرې خاوندانو د مجسم نور، د رسالت آفتاب د حق او صداقت معلم، د اسلام داعي حضرت محمد مصطفی ﷺ او د هغوي د دعوت قبلونکو ته ونه رسولو. کوم ازار او کوم تکليف وو چې ئې ور نه کړو. او د کړولو تزنولو او دړدولو کومه طريقه وه چې مخالفانو پريښودہ. د کفارو د ظلم او جور او د داعي اسلام ﷺ او د هغوي د پيروانو د صبر او استقلال واقعات زيات او بيان ئې ډير وږد دے خو د حضرت رحمة للعٰلمين د رحمت او شفقت او عفو او کرم د يوې اندازې لګولو دپاره (اګر کۀ د دغه بې کرانه بحر اندازه کول زمونږ له استعداده ډير لرې دي) به په اختصار يو څو خبرې وکښل شي. کفارو به د حضرت سرور کونين ﷺ په لاره کښې اکثر اغزي خوارۀ کړل چې پښې مبارکې ئې ژوبلې شي او د دولت کدې په ورۀ کښې به ئې ګندګي وغورزوله. د حضرت عمرو بن العاصؓ بيان دے چې يوه ورځ حضرت رسالت مآب ﷺ په کعبه شريفه کښې نمونځ کولو چې عقبه بن ابي معيط راغلو او خپل څادر ئې لکه د پړي تاؤ کړو او آنحضرت ﷺ چې په سجده شول نو څادر ئې مرى مبارکې ته ور واچولو او تاوولو ئې. آنحضرت ﷺ کۀ هر څو په درد او تکليف کښې وو خو په اطمينان خپل رب ته په سجده پراتۀ وو. په دې کښې حضرت صديق اکبرؓ راغلل هغوي عقبه وديکلو او له حضرت رسالت مآب ﷺ نه ئې لرې کړو. او دا آيه کريمه ئې ولوستله. "اتقتلون رجلا ان يقول ربى الله و قد جآء کم بالبينت" يعني آيا تاسو يو (برګزيده) سړے دې دپاره وژنئ چې هغه الله خپل رب بولي او تاسو له سره د روښانه دليلونو راغے. يو څو نابکارو په حضرت صديق اکبرؓ حمله وکړه او ډير ئې ووهل. يو بل ځل چې آنحضرت ﷺ په کعبه شريفه کښې نمونځ کولو نو ابوجهل ووې چې فلانکي ځائے کښې اوښ حلال شوے دے څوک ورشئ او لرې ئې راوړئ. عقبه بدبخت لاړ او د نجاسته ډک لرې ئې راوړ. چې آنحضرت ﷺ د خپل رب په مخکښې په سجده پريوتل نو هغه لرې ئې ورله په شا مبارکه کيښود. حضرت رسالت مآب ﷺ خو خپل رب ته په سجده پراتۀ وو او دغو بدبختو خندا او ټوقې مسخرې کولے. معصومه حضرت سيده فاطمه الزهرا سلام الله عليها راغله او هغه لرې ئې د شا مبارکې نه لرې کړو. کله به ئې آنحضرت ﷺ (معاذالله) په ساحر او شاعر بلل او کله به ئې ورته (نعوذ بالله) ليونے وئيل.

حضرت بلالؓ د امیه بن خلف غلام وۀ هغه چې د حضرت بلالؓ د مسلمانیدو نه خبر شۀ نو قسماقسم آزارونه ئې وررسول. کله خو به ئې ېږے ور په غاړه کړو او بل سر به ئې چا هلک ته ورکړو او هغۀ به هلکان ورپسې ره حضرت بلالؓ راکښو او د مکې شریفې په غرونو کښې به ئې گرځولو. کله به حضرت بلالؓ په تودو شګو څملول شول او ګټې به ورته په سینه کیښودې شوے کله به ئې ورله لاسونه وتړل او په لرګو به ئې وهل. په غرمو به ئې کښېنول او وړې به ئې ساتل خو دې سعادتمند انسان به په هر تکلیف او مصیبت کښې د احد احد ناره کولے. حضرت عمار، باباجې ئې یاسر او مور بي بي سمیه ئې (رضي الله عنهم) مسلمانان شوي وو او ابوجهل به ورله قسماقسم آزار ورکولو. یوه ورځ چې حضرت سرور کائناتؐ دوي د سخت درد او رنځ زغملو په حال ولیدل نو ورته ئې وفرمائیل "اصبروا یا آل یاسر فان موعدکم الجنة" یعنې په د یاسر کورنی صبر کړئ یقیناً ستاسو ځائے جنت دے. حضرت سمیه رضي الله عنها هم د ابوجهل له لاسه شهیده شوه. د حضرت خبابؓ به د سر ویښته راکښل شول مرى به ورله خفه کیده او یو ځل په شا په بلو انګارونو څملول شول. حضرت ابوفکیهه افلح رضي الله عنه له به په پښو کښې ېږے واچولے شو او په کانړو به راکښل شول. یعنیه، زیزه او ام عبیس رضي الله عنهن وینځې وے. د هغو ظالمانو بادارانو به هم دغه شان ظلمونه په هغوي کول. حضرت مصعبؓ بن عمیر مور له کوره وشړل. حضرت عثمان غنيؓ به تره وتړل او د کجورو د پاڼو لوګے به ئې ورکولو. ځنې اصحاب به قریشو د غوا یا اوښ په اومه څرمنه کښې ونغښتل او په غرمو به ئې کیښودل. کله به ئې د اوسپنې زغرې وراغوستولے او په تودو کاڼو به ئې ورغورزول.

چې د قریشو زور زیاتے له حده تیر شو نو د حضرت رسالت مآب ﷺ په اجازت د مسلمانانو یوې لیږې ګڼې دولس سړو او څلورو ښځو حبشې ته هجرت وکړو. حضرت عثمان غنيؓ د دې قافلې مشر وو. حضرت عثمان غنيؓ سره ئې حرم محترم سیده رقیهؓ هم وے چې د حضرت رسالت مآب ﷺ لور بي بي وه. دې قافلې پسې ۱۰۱ کسه مسلمانانو ۸۳ سړو او ۱۸ زنانه ؤ نورو هم حبشې ته هجرت وکړو. د حضرت عثمان غنيؓ او سیده رقیهؓ حبشې ته د هجرت په حقله د جناب رسالت مآب ﷺ ارشاد دے چې د لوط او ابراهیم علیهما السلام نه پس دا وړومبۍ جوړه ده چې د خدائے په لاره کښې هجرت کوي. په مهاجرو کښې د حضرت رسالت مآب ﷺ د تره جناب ابو طالب زوے حضرت جعفرؓ هم وو قریشو یو وفد د حبشې عیسائي بادشاه اصمحه نجاشي له ولیږلو چې دا مهاجرین قریشو ته واپس کړي. خو نجاشي د قریشو مطالبه ونۀ منله او وفد ئې ناکامه ستون شو.

قریشو چې ولیدل چې په زور زیاتي خو هغوي حضرت سرور کائنات ﷺ د اسلام له تبلیغه منع نهٔ کړے شول او نهٔ ئې د رسالت د شمعې پتنگان ترې واړول نو آنحضرت ﷺ لره ئې د دولت، عزت او حکومت طمع ورکولو کوشش وکړو. چې داسې هم ناکامه شول نو جناب ابو طالب له په جرگه لاړل او ورته ئې ووې چې ورارهٔ دې منع کړه گنې مونږ له نوره صبره پاتې شو. جناب ابوطالب چې له دغه حاله آنحضرتؐ خبر کړل نو هغو مبارکو وفرمائیل "ترهٔ کهٔ دا خلق نمر زما په ښي لاس کښې او سپوږمی مې په کین لاس کښې کیږدي نو هم به زهٔ لـه خپلـه کـاره وانهٔ وړم او د خدائے په حکم کښې به د یوهٔ توري هم کمے زیاتے ونهٔ کړم. هلو کهٔ په دې کار کښې زما ځان هم لاړ شي."

قریشو آنحضرت ﷺ راوغوښتل او یو ځل بیا ئې ورله د طمعې لالچ ورکولو کوشش وکړو خو هغو مبارکو ورته واضحه کړه چې هیڅ کله او په هیڅ شان د خدائے د پیغام له رسولو او د هغهٔ د امر په ځائے راوړلو پاتې کیدونکے نهٔ یم.

هـم پـه دغـو شپـو ورځـو کښې یوه ورځ چې د صفا په غرهٔ ئې تشریف فرمایهٔ ابوجهل ورغـے وروميـے خـو ئې ډيـرې د گستـاخـی او بې ادبی خبرې وکړے او بیا بدبخت یو کاڼے ورگزار کړ چې د آنحضرت ﷺ سر مبارک ژوبل شو او وینې ترې روانې شوے.

د بعثت د اووم کـال د محـرم پـه میاشتې کښې قریشو فیصله وکړه چې نهٔ صرف د محمد ﷺ بلکې د هغهٔ قبیلې بني هاشم خواه کهٔ مسلمانه شوے هم نهٔ ده بائیکاټ کول پکار دي. (ځینې حضرات لکه حضرت عليؓ او د هغوي وړور حضرت جعفرؓ او د حضور ﷺ ترهٔ حضرت حمزهؓ مسلمانان شوي وو.) او د دې فیصلې د نتیجې په طور آنحضرتؐ سره د خپلو خویښانو تر دریو کالو په یوهٔ غرهٔ کښې گیر میشته وو او ډیرې گرانې سختې پرې راغلے چې د الله تعالیٰ په توفیق او فضل و کرم په ډیر صبر ئې وزغملے.

طـائف تـه چې آنحضرت ﷺ د تبلیغ دپاره تشریف وفرمایهٔ نو د گستاخانه خبرو او مسـخرو نـه علاوه به مخالفانو دومره کاڼي په هغو مبارکو گزار کړل چې وینې به پرې روانې شوے تـر دې حـده چې په پښو مبارکو کښې ئې راټولې شوے. په طائف کښې یو ځلې د وعظ کولو په دوران کښې دومره پرهارونه ورغلل چې بیهوشه پریوتل. او حضرت زیدؓ په شا کړل لـه آبـادی ئې بهر ته بوتلل. په مخ مبارک ئې ورله د اوبو ترامکې واچولے او طبیعت مبارک ئې پـه حـال شـو سـره د دغه سلوکه ئې هم چې مکې معظمې ته مراجعت وفرمایهٔ نو ارشاد ئې وکړو چې زهٔ به ولې د دغو خلقو بربادي غواړم کهٔ دوي په یوهٔ خدائے ایمان نهٔ راوړي نو هیله ده چې د دوي راتلونکي نسلونه به پرې راوړي.

قریشو اخر د جناب رسالت مآب د شهیدولو سازش وکړو خو الله تبارک و تعالیٰ وژغورل او د هغهٔ په امر ئې مدینې منورې ته هجرت وفرمایهٔ. چې وړومبے ئې بیان شوے دے. د هجرت نه پس تری هم قریشو لاس کوتاه نهٔ کړو او هغوي او ملګرو قبیلو ئې ورسره جنګونه شروع کړل. چې پکښې ډیر مسلمانان سره د آنحضرت ﷺ د ترهٔ حضرت حمزهؓ شهیدان شول. په جنګ احد کښې د کفارو په ویشتلیو ګټو د حضرت سرور کائنات ﷺ تندے مبارک او لیچه مبارکه ژوبل شوه او څلور غاښونه مبارک ئې شهیدان شول. د حضرت حمزهؓ شهادت هم په دغه جنګ کښې شوے وهٔ. دښمنانو ئې د لاش بې حرمتي کړے او اعضا ئې ورله پریکړې وو. په دغه جنګ کښې چې کفارو په آنحضرت ﷺ کاڼي او غشي وورول رحمة للعٰلمین پرې د رحمت باران وروولو. بعض اصحابو چې عرض وکړو چې کفارو ته ښیرې وکړې نو وې فرمائیل چې "انی لم ابعث لعاناً ولکن بعثت داعیاً ورحمة اللهم اهد قومی انهم لا یعلمون" یعنې زهٔ لعنت کونکے نه یلکې خدائے طرف ته بلونکے او څره رحمت رالیږلے شوے یم خدایه زما قام ته هدایت وکړے هغوي ناپوهه دي. خدائے تعالیٰ په دغه جنګونو کښې همیشه د خپل رسول مقبول ﷺ او د هغهٔ د اصحابو امداد وکړو او په کفارو ئې برے ورکړو. په جنګ احد کښې باوجود د مسلمانانو د لوے نقصان میدان هم کفارو پریښے وهٔ. د قریشو د جارحانه کارروائیانو، پیش دستي او عهد شکنۍ د نظر د وړاندې د هجرت په اتم کال د رمضان په میاشت کښې آنحضرت ﷺ د لسو زرو قدوسیانو سره د مکې له کفارو د نیوو دپاره هغه لوري ته توجه وفرمائیله. د خدائے تعالیٰ د مشیت او حکمت تقاضو سره سم هغه وخت رارسیدلے وهٔ چې بنائے ابراهیمؑ کعبه شریفه د کفر او شرک د نخښو نښانو او آلودګو، د باطلو خدایانو، بتانو نه پاکه صافه او د واحد لا شریک معبود الله جل شانه عبادت لره خاصه کړے شي. هم دغسې وشو او بې له څهٔ د یادولو وړ مداهنته مکه فتح شوه. بیت الله شریف د کفر او شرک له هره قسمه آلودګیو او نخښو نښانو پاک او صاف او د الله جل شانه عبادت لره خاص کړے شو. په کعبې شریفې کښې او د مکې معظمې په پاکه زمکه د توحید غلغلې وچتې شوے. قریش، هغه قریش چې هغوي او ملګرو ئې د دوؤ کونو په سردار ﷺ او د هغوي په پیروانو ئې د هیڅ قسم زور، زیاتي او تیري نه څان نهٔ وو ژغورلے بالکل بیوسه وو خو په څائے د سزا ورکولو رحمة للعٰلمین ورته وفرمائیل "لاتثریب علیکم الیوم اذهبوا فانتم الطلقا" یعنې نن ورځ په تاسو هیڅ ملامت نشته څئ تول ازاد یئ ﷺ. حضرت عیسیٰ علیه السلام خو د خپلو مخالفینو په حقله په دې دنیا کښې د قیام د دوران په اخري مرحله کښې دا خواست کړے وهٔ چې خدایه دوي معاف کړے. او تاسو

ولیدل چې د سرور کونین ﷺ خواست په احد کښې دا وو چې "اللهم اهد قومی" زما خدایه زما قام ته هدایت وکړې. د هدایت موندلو مقام یقیناً د معافي موندلو د مقام نه زیات افضل او وچت دے. او پکښې د ګناهونو معافي شامله ده ځکه چې تر څو یو قصوروار معاف نۀ شي نو د هدایت او فوز او فلاح موندلو سوال لي نۀ شي پیدا کیدے. بلکه دا چې د جناب عیسیٰ علیه السلام دنیا نه د تشریف وړلو نه پس د هغوي قام بې درنګه د هغوي له تعلیمه برګشته او منحرف وو. او د هغوي د قام او د ټول عالم د قامونو چې د هدایت لار ئې ورکه کړې وه حق صداقت او هدایت، صراط مستقیم ته راګرزیدل د حاشر تشریف راوړلو ته اړ وو چې د دنیا ټول قامونه د حاشر چې د عالمینو دپاره رحمت وۀ. (دے او ټل به وي) په قلمونو راغونډ او د هدایت په مرکز راټول او قائم کړل شي. د دواړو دعاګانو په فرق کښې یو بل لطیف حکمت دا هم دے چې د جناب عیسیٰ علیه السلام په ژوند کښې د هغه وخت راتلل نۀ وو مقرر چې هغوي خپل قام پخپله معاف کړے وے او حق تعالیٰ چې حقیقي معافي هم د هغۀ له طرفه ده دا شرف د خپل ټولو نه لوے او اخري پیغمبر دپاره مقرر کړے وۀ.

د مکې د فتح (رمضان المه هجري) نه پس تقریباً دوه نیم کاله نور هم حضرت سرور کائنات ﷺ خپل مجسم نور وجود سره د الله جل شانه امر سره سم د هغۀ په فضل او توفیق دنیا ته د هدایت، حق او صداقت لار ښئیله او چې حق همیش لره سربلند او باطل سرنګون شو. معبودان باطل پرمخ راپرېوتل او انسان د خپل عظمت نه خبر او سر ئې صرف خپل واحد لاشریک معبود الله جل شانه ته ټیټ شو د شرک، کفر او ګناه توري تیرې خورې ورې شوے او د توحید، ایمان او نیکی، اسلام رڼا په ټول جزیرة العرب کښې ویره او خلور کنجه دنیا وته رسیدو ته تیاره شوه نو د ییر په ورځ د یوولسم هجري کال د ربیع الاول په میاشت (مئ ۶۳۲ء) کښې ئې له دې دنیا تشریف یووړ او خپل رب، رفیق اعلیٰ سره واصل شول.

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ط اللهم ربنا لبیك و سعدیك صلوٰة الله البر الرحیم و الملٰئكة المقربین والنبیین والصدیقین والصلحین و ما سبح لك من شیء یا رب العٰلمین علیٰ محمد بن عبدالله خاتم النبیین و سید المرسلین و امام المتقین و رسول رب العٰلمین الشاهد المبشر الداعی باذنك السراج المنیر و بارك علیه وسلم.

"کامل توحید او خالصه خدائے پرستي، د نسل او خاندان یا کفارې په ځائے په خدائے پرستي او نیک عمل د نجات مدار ګرځول د نسلي غرور او ویاړ نړول په ذاتونو کښې د ویش ختمول، په انساني حقونو کښې د ټولو انساني افرادو برابرے، د ویرې

وروروړلی بنیاد، د رواجي غلامی برخلاف د اصلاح او انقلاب تشکیل، د زنانه ؤ دپاره د انساني حقونو د برابری اعلان او په صنفي حقونو کښې امتیازي احکامات، انقلاب او اصلاح، وراثت، په ازدواجي ژوند کښې د ظالمانه رواج خاتمه، او نوي او سودمن اصلاحات (خلع او طلاق وغیره) د زکات د وجوب، د سود او جواری د حرمت او نورو اصلاحاتو په ذریعه په اقتصادي نظام کښې بنیادي انقلاب، د انفرادي او اجتماعي ملکیت تسلیمول، د تجدیدي اعتدال اعلان، په سیاسي او ملکي انتظام کښې د بادشاهت، د شخصي او د ډلو د اقتدار خاتمې سره د شوروي نظام تشکیل داسې مهم امور دي چې په ننني دنیا کښې به د هر یو انصاف پسند او عقلمند په نزد د دیو صداقت او افادیت منلې شوې حقیقت وي. او کهٔ دا صحیح دي نو بیشکه په ایشیا او یورپ کښې او په افریقه او امریکه کښې چې د سوسائټۍ د نظام او د دین او مذهب د اصلاح په نامې کومې نعرې پورته کړلې کیږي نو هم د دغه تعلیم او اعلان حق نه پس پورته شوي دي. کهٔ بې له څهٔ تعصبه په تاریخي انقلابونو غور وکړو نو په دیو کښې په واسطې یا بې واسطې د هغه غیر تمیبدنه بیامومو چې په شپږمې عیسوي صدی کښې د فاران له څوکې پورته شوې وهٔ. او چې د "وما ارسلنك الا رحمة للعٰلمين" صداقت ئې د نړی په تاریخ کښې ثابت کړ." (قصص القرآن جلد ۴ ص ۲۲۵، ۲۲۶)

پاتې ډیرې ډکې شوې او کهٔ نورې هم هر څومره ډکې کړل شي نو نهٔ خو د آقائے نامدار ﷺ د نعت حق د غلام له لوریه ادا شو او نهٔ به ادا شي. او نهٔ له هل چا ادا شوے دے یا به ادا شي. بس یو خالق مالک الله جل شانه چا چې ورله د انس او جن او ملک له علم او پوهې بالا لوئے شان او لویه مرتبه ورکړې ده هغه ذات پاک ئې له شانه او مرتبې خبر دے. او هم هغهٔ ئې ښه ثنا کړې ده کوې ئې او کولے ئې شي. نو باید چې زهٔ غلام د آقائے نامدار ﷺ نعت د مرزا اسد الله خان غالب مرحوم و مغفور په دغې ښکلې وینا ختم کړم:

کامل ثنائے خواجه به یزدان گزاشتیم

کآن ذات پاک مرتبه دان محمد ﷺ است

۲. یعنې د بدبختانو ډلې بغض او کینه راواخسته. فارسي عبارت ن ز ۲/۳۲ "وفرقهٔ ایشان عناد و بغض عداوت پیش گرفتند" یعنې "یوې ډلې له عکسه او کینې دښمنې د وړاندې کړه" ن ح جلد ۱ ص ۷۷ "وفرقهٔ عناد بغض وعداوت پیش گرفتند" او یوې ډلې عکس، کینه او دښمنې د وړاندې کړه.

۳. پښتو تر ولید بن عکرمه. مطابق د فارسي نسخو ن ز ۲/۳۲ او ن ز جلد ۱ ص ۷۷ اضافه وشوه.

۴. فارسي نسخې ن ز ۲/۳۲ "..... قبائل بني افغان و بني اسرائیل بود" ن ح جلد ۱ ص ۷۷

"... قبائل [(بني افغان)] بن اسرائيل بود" د دوه ډوله ليندو ترمينځه توري د ايشياټک سوسائټۍ کلکتې د دوؤ نسخو دي.

۵. د حضرت خالدؓ بن وليد او د هغوي د ورور وليدؓ بن وليد د نسب په حقله دا بيان هيڅ معتبر تاريخي سند په خپل تائيد کښې نۀ لري. بناغلے امام الدين صاحب په ن ح جلد ۱ ص ۷۷ حاشيه د حضرت خالدؓ شجره نسب د اُسدالغابه جلد ۲ په بنا داسې بيانوي "خالد بن الوليد بن المغيره بن عبدالله بن عمر بن مخزوم" او بيا د حبيب السير جلد اول جز ۴ ص ۱۸ نه ئې داسې نقل کوي"خالد بن الوليد بن المغيره بن عبدالله بن عمر بن مخزوم و مادر خالد لبابه است که خواهر ام المؤمنين هلاليه است" پس له دې ليکي چې "اسما نام مادر خالد بود. رجوع کنيد به جن. ټي اے بي (وسټين فيلډ) ايس ۲۲" ماسوا د حضرت خالدؓ د پدري شجرې نه چې صحيح ده او دا هم چې د حضرت خالدؓ د والدې نامه لبابه وه د حاشيې نور بيان محل نظر دے.

(۱) د حضرت خالدؓ پوره شجره لاندې سره د حضرت رسول مقبول ﷺ او د حضرت ابوبکر صديقؓ د مبارکو شجرو ورکړل کيدے شي چې د دوي نسبي تعلق به ترې سره جوت شي:

	فهر (قريش)	
	غالب	
	لوي	
	کعب	
	مره	
يقظه	کلاب	تميم
مخزوم	قصي	سعد
عمر	عبدمناف	کعب
عبدالله	هاشم	عمرو
مغيره	عبدالمطلب	عامر
وليد	عبدالله	عثمان ابوقحافه
خالدؓ	حضرت محمد ﷺ	ابوبکر صديقؓ

د فهر نه د پورته کړو دپاره د جناب سرور کائنات ﷺ شجره طيبه مبارکه د دې صفحې په ورومبي نوټ کښې وګورئ.

(۲) د حضرت خالدؓ د والدي د پلار نامه حارث وه. د هغهٔ د لونو نامې دا دي (۱) عزه (۲) عصما (۳) هزيله (۴) ام المؤمنين حضرت بي بي ميمونهٔ سلام الله عليها زوجه مطهره رسول مقبول ﷺ (۵) ام الفضل لبابة الكبرئ د حضرت رسول مقبول ﷺ د ترهٔ حضرت عباسؓ بي بي محترمه (۶) لبابة الصغرئ د وليد بن المغيره بي بي او د حضرت خالدؓ والده. د حضرت ام الفضل لبابة الكبرئ په حقله وئيلے شي چې په زنانه ؤ كښې د ام المؤمنين حضرت خديجه الكبرئ سلام الله عليها نه پس دوي له تولو وړومبے په اسلام مشرفې شوے وے. د لبابة الصغرئ د اسلام قبلولو باره كښې په مؤرخينو كښې اختلاف دے. غالباً چې اسلام ئې راوړے وهٔ ځكه چې يو خو به حضرت سرور كائنات ﷺ دغو خويندو ته اخوات المؤمنات (مؤمنانې خويندې) وئيل او بله دا چې د لبابة الصغرئ ژوند د حضرت عمر فاروق اعظمؓ تر مباركه عهده ثابت دے. والله اعلم بالصواب.

د حضرت خالدؓ د مورنئ نيا يعنې د حارث د ښځې نوم هند بنت عوف وهٔ. د حضرت خالدؓ والده لكه چې له برنې بيانه بايد ښكاره دې په امهات المؤمنين كښې د حضرت ميمونه سلام الله عليها خور وه. نهٔ د لبابه په خويندو كښې او نهٔ په امهات المؤمنين كښې د چا نوم هلاليه وهٔ. البته هلالې د سرې او هلاليه د ښځې خاندانې او قبيلوي نوم كيدے شي. د حضرت خالدؓ د مور د پلار حارث په اووم پشت كښې د نيكهٔ نامه هلال بن عامر وه. گوندې هم ام المؤمنين حضرت بي بي ميمونه سلام الله عليها په دې وجه د هلاليه په نوم يادې شوے وي.

لكه چې وړوئيل شول د حضرت خالدؓ د والدې نوم لبابه وهٔ نهٔ اسما (لكه چې د ن ح يادې شوې حاشيې كښې علاوه له لبابه ده) اسما د حضرت خالدؓ د مور ناسكه له موره يوه له پلاره بيله خور وه. نو د حضرت خالدؓ ناسكه مورنئ ترور وه. د اسما دوه سكه خويندې سلمئ او سلامه وے د دې دريو خويندو د پلار نامه عميس وه. دغسې تولې نهٔ خويندې شوے چې يو ناسكه ورور ئې محميه بن جزء الزبيدي وهٔ.

اسما بنت عميس د حضرت علي كرم الله وجهه د ورور حضرت جعفرؓ بن ابي طالب بي بي وه. د هغوي نه پس د جناب صديق اكبرؓ په زوجيت كښې راغله او پس له هغوي په اخره د جناب علي المرتضئ كرم الله وجهه په نكاح كښې. سلمئؓ وړومبے د جناب سرور كائنات ﷺ د ترهٔ حضرت امير حمزهٔؓ بي بي وه او د هغوي د شهادت نه پس ئې شداد بن اسامه بن هاد الليثي سره نكاح وكړه د سلامه د خاوند نوم عبدالله بن كعب بن منبه خثعمي وهٔ.

(۳) د حضرت خالدؓ په وروڼو كښې د هغوي نه علاوه حضرت وليدؓ او حضرت هشام اسلام راوړے وهٔ. حضرت وليدؓ موصوف د دوؤ نورو ستائيليو صاحبانو نه ډير وړومبے

مسلمان شوي وو حضرت ولیدؓ چې موقع بیاموندله د کفارو قریشو له بنده راووتل او مدینې منورې ته روان شول په لاره کښې ئې د ډیر پیاده مزل وهلو له قبله یوه ګوته ډیره ژوبله شوې وه نو هم په هغه موقع ئې دا شعر وئیلے وۀ:

هل انت الا اصبع دمیت   و دي سبیل الله ما بقیت

یعنې اخر شوې څۀ دې هم دا چې یوه ګوته وینې شوه لا تا د خدائے په لاره کښې زغملې څۀ دي.

(۴) د حضرت خالدؓ دواړو خویندو فاطمهؓ او فاختهؓ اسلام قبول کړے وۀ.

(۵) د حضرت خالدؓ پلار ولید بن المغیره د قریش په لویو سردارانو کښې بیشانه ډیر مالدار سړے وۀ. دا بدبخته هم لکه د خپل بدنصیبه وراره عمرو (المعروف به ابوجهل) بن هشام د حضرت سرور کائنات ﷺ په مخالفت کښې ډیر سرګرمه وۀ او د آنحضرت ﷺ د غلامۍ له دولته محروم پاتې شو. او سره د دې چې د څنو ډیرو لویو خوبو لرونکے وۀ عاقبت ئې خراب او اعمال ئې ضائع شول.

(۶) "عبدشمس نیکۀ د ولید د مور وۀ. او حشمت او شوکت ئې ډیر درلۀ. په دا سبب ئې په قریشو کښې شهرت بیاموند او في الحقیقت بني اسرائیل وۀ." فارسي نسخې ن ز ۲/۳۲ و ۱/۳۳ ن ح جلد ۱ ص ۷۷، ۷۸ "مصنف مجمع الانساب بہ اکثر ارباب سیر ولید را از جملہ اہل قریش می شمارند واورا از فرزندان عبدالشمس می گویند چون بہ واسطہ علو شان ونعمت وحشمت وشوکت ایشان را با قریش نسبت خویشی واقع شدہ بود، بنابرآن عبدالشمس جد مادر ولید می شدو بہ این سبب بہ قریش اشتہار یافت وگرنہ فی الحقیقت از بنی اسرائیل بود." ترجمه: د مجمع الانساب مصنف او اکثر ارباب سیر ولید په اصل له قریشو څخې ګڼي او هغۀ ته د عبدالشمس له خامنو وائي هر کله چې د لوے شان، نعمت، حشمت او شوکت له قبله د هغوي قریشو سره خپلوي شوې وه نو دې دپاره عبدالشمس د ولید مورنے نیکۀ وۀ او دې دپاره په قریشو مشهور شو ګنه په حقیقت کښې بني اسرائیل وۀ.

په ن ح ص ۷۷ د "مجمع الانساب" نه پس "و اکثر ارباب سیر" نه وړومبے د (اصناف المخلوقات و صاحب اسماء صحابه) عبارت د بانکي پور خدابخش لائبریری د نسخې په حواله زیات کړے شوے دے او هم دغسې د "از فرزندان عبدالشمس می گویند" نه پس او "چون بواسطه" نه وړومبے دا عبارت هم د یادې شوے نسخې په بنا زیات کړے شوے دے.

"[اما مستوفی در تاریخ خود ولید پدر خالد را از بنی اسرائیل می نویسد کہ بنی مخزوم اولاد یہودا ابن مہتر یعقوب علیہ السلام اند و بنابر نسبت خویشی کہ با قریش واقع شدہ بود بنی مخزوم را قریش می گفتند.]" (ص ۷۷، ۷۸) ترجمه: لیکن مستوفي په خپل تاریخ کښې لیکي چې ولید د خالد پلار له بني اسرائیل وۀ څکه چې بني مخزوم د یهودا بن

حضرت یعقوب علیه السلام اولاد دي. او د خپلوی له قبله بني مخزوم ته قریش وائي. حاصل دا دے چې ولید د حضرت خالدؓ پلار قریش نۀ وۀ خو هر کله چې د دنیاوي حالت او شان و شوکت په وجه قریشو ورسره خپلوي قبوله کړه او عبدالشمس قریشي د ولید پلار لره لور ورکړه او ولید د هغې خوږے وۀ نو قریش مشهور شو گنه اسرائیلي وۀ. دغه عبارت د ن ز او ن ح مشترک دے. د ن ح د زیاتي عبارت مطلب دا دے چې بني مخزوم (چې ولید له هغو څنو وۀ) د حضرت یعقوب علیه السلام د زوي یهودا له اولاده وو او بني مخزوم ته به ئې د قریشو سره د خپلوی له قبله سره د دې چې اصلاً اسرائیلیان وو قریش وئیل.

تر څو چې د بني مخزوم تعلق دے نو د دې قبیلې په تاریخ د اسلام نه وړومبے او وروستو چې د مستندو او معتبرو آثارو په رنړا کښې نظر واچوو نو دا یقیناً د قریشو یوه ډیره مشهوره معززه او مؤقره قبیله ده او دا خبره بالکل بې وقعته لیدۀ شي چې عبدالشمس قریشي سره د خپلوی د حضرت خالدؓ د نیکۀ مغیره د هغۀ یعني د عبدالشمس د زوم کیدو په وجه بني مخزوم قریش وگڼل شول. هر کله چې د قریشو بیلو بیلو څانگو ته د هغوي په اجتماعي ژوند کښې بیل بیل فرائض ورکړلي شوي وو نو بنو مخزوم ته د جنگ د سامان، اسونو زغرو او لښکر د فراهمی او نگرانی کار سپارلے شوے وۀ. چې کوم وخت د کعبې د نوي سره تعمیر کیدو د اکثرو مؤرخینو په نزد صرف څلورمه برخه د بنو مخزوم په نامه راغلې وه. بنو هاشم د قریشو د ټولو نه معززه قبیله وه او بلې کومې قبیلې به سوا د بنو مخزوم ورسره د همسری له دعوې څان زغورلو. چې حضرت سرور کائنات ﷺ ته الله جل شانه د رسالت خلعت او منصب عطا کړو نو ابوجهل بدبخت به بنو هاشم ته وے چې کوم وخت د سخاوت میراني، لوبي او عزت او شرف مقابله وه او اسونه په میدان وزغلیدل او مونږه مقابله وکړله نو تاسو دا وئیل شروع کړل چې مونږ کښې نبي پیدا شو. اگر کۀ د ابوجهل ملعون د دې وینا روایت واقدي کړے دے. او باید چې بې له څۀ تائیدي شهادته د هغۀ بیان د اعتبار له پایې ساقط وگڼل شي خو په هر حال سره د نورو خبرو چې ئې ذکر وشو د اسلام نه وړومبے په قریشو کښې د بنو مخزوم حیثیت ښکاره کوي چې صرف د مال دولت په وجه بې د هغې له ترونه نۀ شو کیدلے. بیا د عرب اهل انساب لکه چې تاسو د حضرت سرور کائنات ﷺ، حضرت صدیق اکبرؓ او حضرت خالدؓ په مشترکه شجره کښې ولیدل، بنو هاشم، بنو تمیم، او بنو مخزوم د یوۀ نیکۀ اولاد بنيي. بیا د شقاوت او سعادت دواړو له رویه په دې قبیله کښې ډیر مشهور خلق تیر شوي دي. هم په دې قبیله کښې د عمرو بن هشام (ابوجهل) او د دۀ د ترۀ ولید بن المغیره غوندې شقیان او لعنتیان تیر شوي دي او د خپلې گمراهی او بدبختی په وجه رسوائے عالم

دي. او بل خوا هم دې قبیلې کښې د عزت، شرف او سعادت څښتنان او میرمنې تیرې شوي دي. د ابو وهب بن عمرو مخزومي خور بي بي سیده فاطمه بنت عمرو د حضرت سید الانام ﷺ د والد ماجد حضرت عبدالله والده مکرمه او د حضرت عبدالمطلب بي بي وه. او د حضرت عبدالله نه علاوه د حضرت ابوطالب او زبیر او بي د بي بي صفیې د حضرت عبدالمطلب د ټولو لونو والده ماجده وه. ام المؤمنین هند ام سلمهؓ د ابو امیه سهیل بن مغیره بن عمرو بن عبدالله بن مخزوم لور بي بي وه او دغسې د ولید بن المغیره وریره د زهیر خور او د حضرت خالدؓ ترله وه. د حضرت ام المؤمنین ممدوحه موصوفهؓ وررور زهیر ورومبے سړے وۀ چې د قریشو د هغې معاهدې برخلاف ئې اواز پورته کړے وۀ چې د کومې په نتیجه کښې حضرت سید الانام علیه الصلوٰة والسلام او د هغوي خاندان په شعب ابي طالب کښې محصور شوي وو. د حضرت ام المؤمنین ممدوحه موصوفهؓ حضرت خالدؓ او د هغوي وررور حضرت ولیدؓ نه علاوه په دغه قبیله کښې چې کوم نفوس قدسیه تیر شوي دي په هغوي کښې حضرت ابو سلمه عبدالله بن عبدالاسد له سابقون الاولون، مهاجرین حبش او مدینه او شهدائے احد څخه دي. رضي الله عنهم. حضرت ام المؤمنین ممدوحه موصوفه ﷺ ورومبے د حضرت ابو سلمه عبداللهؓ بي بي وه. او د دوي د شهادت نه پس ئې د حضرت سرور عالمین ﷺ د زوجیت شرف او سعادت حاصل کړو. حضرت ارقم مخزوميؓ هم له سابقون الاولون وو. هم د دوي کور وۀ چې د اسلام په ابتدائي د ابتلا او مصیبت په دور کښې د مسلمانانو ورومبے جمات اود پناه ځائے وۀ او فاروق اعظم حضرت عمرؓ هم دلته د حاضرۍ سعادت حاصلولو نه پس د اسلام د اعلان فخر حاصل کړے وۀ. حضرت عبدالله مخزومي او حضرت هنسا مخزوميؓ هم له سابقون الاولون او مهاجرین حبشه څخه وو. حضرت مسیب مخزوميؓ په بیعت رضوان کښې شامل وو د شقي ابوجهل سعید زوے عکرمهؓ د فتح مکه په موقع تښتیدلے وو او زر پس چې د غلامۍ د سعادت حاصلولو دپاره د سرور عالمین ﷺ په خدمت کښې حاضر شول نو هغو مبارکو ﷺ ورته په دیو الفاظو هرکلے ووې. "مرحبا بالراکب المهاجر" یعنې په مهاجرو سور آفرین. د یرموک په جنګ کښې یو وخت د رومیانو د یوې ډیرې سختې حملې په وجه د مسلمانانو دپاره ډیر نازک صورت حال پیدا شو نو حضرت عکرمهؓ نعره وکړه چې د مرګ دپاره زما بیعت کولو ته څوک تیار دي نو حارث بن هشام، ضرار بن ازور ازدي او څلور سوه نور مجاهدینؓ د شهادت په شوق وروړاندې شول. او دغو حضراتو د حضرت خالدؓ د خیمې په مخکښې په ډیرې میړانه او جانبازۍ او سرفروشۍ جنګ وکړو. او اکثر پکښې شهیدان شول. حضرت عکرمهؓ او د هغوي زوے عمرو دواړه سخت زخمیان

شـوي وو. حـضـرت خـالدؓ لره يوړل شول. او پلار او زوړے دواړو سعادتمندو د هغوي په غيږ کښـې سـاه ورکـړه. او د شهـادت سعادت ئې بيامونـدو. د حضرت عکرمهؓ يوه بله واقعه هم د يـادولـو ده د حضرت فاروق اعظمؓ د خلافت په زمانه کښې ځنې قريش سرداران چې حضرت عـکـرمـهؓ هم پکښې شامل وهٔ د حضرت خلافت مآبؓ د ملاقات شرف حاصلولو دپاره حاضرِ شـوي وو سـيـدنـا حـضـرت بلالؓ هم راغلي وو. حضرت خلافت مآبؓ وړومبے حضرت بلال وبـلـل قـريـش سـرداران په دغه خبره ځنځو ڼاخوښه شول او وې وئيل چې عجيبه خبره ده چې مـونـږ خـو دې انـتـظار کړو او حبشي دې وړومبے بللے کيدے شي. حضرت عکرمهؓ وفرمائيل چې بلونکي ﷺ تول په يوهٔ آواز بللي وو خو هغه وخت چې چا وړومبے غږ اوريدلے وهٔ اوس هـم د هـغـهٔ حـق دے. چې هغه وړومبے وبلل شي. (د مولانا سعيد احمد صاحب تاليف غلامان اسـلام ص ۳۲، ۳۳) د يـادو شـوؤ کسانو نه علاوه نور هم ډير مشهور خلق په دې قبيله کښې تير شوي دي خو هيله ده چې في الحال به هم د ديو خصوصي ذکر کافي وګڼلے شي. په مخ به د ځنو نورو مشهورو کسانو هم چې دې قبيلې سره ئې تعلق لرلو مختصر ذکر راشي.

د ديـو تـفـصـيلاتو د بيانولو نه مقصود دا دے چې بنو مخزوم يوه ډيره مشهوره قبيله وه او نـهٔ صرف د اسلام نه وړومبے په حيثيت د قريش ئې په مکه معظمه او د دې ښار په اجتماعي ژونـد کښـې ډيـر اثر او نفوذ لرلو او بيا د حضرت سرور کونين ﷺ د بعثت نه پس هم د دغه قبيـلـې د ځـنـو افـرادو د خـصـوصي بدکردار او د ځنو نورو ډيرو افرادو د ښهٔ عمل او شاندار کـردار، د حضرت سيد العالمين ﷺ او دين حق د حمايت په وجه د دې قبيلې شهرت برقرار پـاتـې شـو. نـو د تـعـجـب او حيـرانتيا خبره ده چې فارسي تذکره نويسان خو خبر شو چې بنو مـخزوم اسرائيليان وو خو په آثار ايام العرب يا د تاريخ اسلام په مستندو عربي ماخذونو کښې د دغې خبرې هيڅ ذکر مذکور يا اشاره قدرې هم ورته نشته. د سيرت ابن هشام مؤلف چې د ازدواج مـطهـرات رضـي الله عـنـهـن مبارک ذکر کوي نو دې التزام او اهتمام سره چې پکښې عـربـې غيـر عـربي، قريشي او غير قريشي څو وے او قريشي بيبيانې امهات المؤمنين حضرت خـديـجـه بـنـت خويلد، حضرت عائشه بنت ابوبکر صـديقؓ، حضرت حفصه بنت عمر فاروقؓ، حضرت ام حبيبه بنت ابوسفيان حضرت ام سلمه بنت ابو اميه، حضرت سوده بنت زمعه رضي الله عـنـهـن يـادې شـوي دي هـر کـلـه چې دومره احتياط کيدو نو کهٔ بنو مخزوم اصلاً نه بلکې وصلاً قـريـش وو نـو د حـضـرت ام المؤمنين ام سلمهؓ په حقله به دا وضاحت شوے وهٔ. (سيرة ابـن هـشـام جـلـد ۲ ص ۷۹۰ ــ ۷۹۴) دلتـه بـه د دې خبرې ذکر هم بې ځايه نهٔ وي چې عبـدشـمـس نهٔ صرف د حضرت خالدؓ د يوهٔ وررور نامه هم وه بلکې د هغوي د پلار وليد کنيت

هم وهٔ.

لکه چې له پورتنو تصریحاتو باید جوته وي بنو مخزوم ته بني اسرائيل وئيل په هيڅ کوم معتبر سند نهٔ دي مبني البته د حضرت خالدؓ د پلار ذاتي معاملې په دې باره کښې څخو ګرانه پيدا کړې ده. د قرآن حکيم څنې آيتونه لکه چې مفسرانو ئې نشاندهي کړې ده د وليد بن المغيره په غندنه کښې راغلي دي او لکه چې د اکثرو مفسرانو خيال دے د سورة قلم ديو آيتونو کښې هم وليد ياد شوے دے:

" وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ () هَمَّازٍ مَّشَّآءٍ بِنَمِيمٍ () مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ () عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ () أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ () إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ () سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ () " (١٠ - ١٦)

ترجمه: او مهٔ منه وينا د ډيرو قسمونو خوړونکي ذليل سړي (چې) په خلقو عيبونه لګوي، ګرځي چغلي خوري له ښو کارونو منع کونکے، له حده تيريدونکے، ګنهګار جنګيالے (او) پرته له دې زنيم (دے) څکه چې ملک او زامن ئې (ډير) دي چې کوم وخت زمونږ آيتونه لوستلے شي (نو) وائي چې دا د اګاهونو قصې دي. مونږ به زر د دهٔ په پوزه داغ لګوؤ.

په پورتنو آيات بينات کښې د "زنيم" لفظ په ترجمه کښې هم دغسې پريښنود شو چې د وليد د نسب په سلسله غور او بحث غوښتونکے دے. د زنيم د معنو په باره کښې چې مولانا عبدالرشيد صاحب نعماني (لغات القرآن جلد ۳) کوم بحث کړے دے خلاصه ئې دا ده چې زنيم هغه چاته وائي چې څوک د کوم يوهٔ بد علامت له قبله مشهور وي او هغه چې داسې قام کښې ځان ورګډوي چې نهٔ خو ورسره او نهٔ ورځني وي. په بدو کښې دومره مشهور وي چې له قبله ئې پيژندے شي او اکثر داسې سړے په نسب کښې متهم او حرامزاده وي. (د ابن دريد، شاه عبدالقادر صاحبؒ، شيخ نورالحق صاحبؒ او ابن کثيرؒ په حواله) بيا هغه سړے چې ځان يوهٔ قام سره ګډوي خو ورځني نهٔ وي. (د امام رازي او فراؒ په حواله) وليد په قريش کښې د نسب له رويه متهم وهٔ. او د دوي له اصله نهٔ وهٔ. د دهٔ پلار د دهٔ د پيدائش نه اتلس کاله پس د دهٔ په حقله دعویٰ کړې وه او د څنو وينا ده چې د دهٔ مور زنا کړې وه خو مشهوره نهٔ وه. تر دې چې آيت نازل شو. (ايضاً) زنيم هغه دے چې په بدو او ملامت کښې داسې مشهور وي لکه چيلي چې خپل زنم يعني د غوږ زوړندې زياتي غوښې له قبله پيژندلے شي. (امام رازي د شعبي په حواله) د زنيم کيدو دا معنیٰ ده چې د دهٔ په مرۍ کښې هم فالتو غوښه وه چې له قبله ئې څرګند وهٔ. (امام رازي د عکرمهؓ او ابن عباسؓ په حواله) د دهٔ د غوږ په ويخ کښې هم دغسې فالتو غوښه وه لکه چې د چيلي د غوږ پريکړې غوښه زوړنده وي. (امام رازي د مقاتل

په حواله).

د حضرت خالدؓ سوانح نګار عباس محمود العقاد مصري وائي چې د يوه روايت له رويه وليد ته "عتل" او "زنيم" د دۀ د فحش ګويي او کمينه توب له قبله وئيلے شوي دي. (عبقريته خالد اردو ترجمه ص ۵۱، ۵۲).

اوس نو کۀ د "زنيم" هم يوه معنیٰ بداصل يا له ناجائزه جنسي تعلقه زيږيدلے وے نو د وليد په بداصلي، کم اصلي يا د هغۀ له ناجائزه جنسي تعلقه د پيدا کيدو په حقله به د قرآن مجيد د شهادت په موجودګي کښې د کلام ګنجائش يا د بل شهادت يا سند هيڅ ضرورت نۀ وۀ. خو د زنيم په لفظ چې مولانا عبدالرشيد صاحب نعماني کوم بحث کړے دے او بيلې بيلې ګڼې معنې ترې جوتې شوي دي نو په هغو کښې مونږ وليدل چې په ډيرو کښې ئې يوه معنیٰ بد اصل، کم اصل، ولدالزنا وغيرها ده. او دا چې د وليد مور زنا کړې وه خو دغه ناکاره والے د آيت تر نزوله پټ يا غير مشهور وۀ. نو په ديو حالاتو کښې دا لۀ قياسه لرې نۀ ده چې کومو خلقو د زنيم دغه معنیٰ چې اوس ئې ذکر وشو اخستے وي هغوي د وليد مور زناکاره ګڼلے وي او دغه شان ترې نورې خبرې لکه مغيره په وليد د هغۀ د زيږيدو نه ډيره موده پس دعویٰ کول وغيره پيدا شوے وي. ياد شوے مصري سوانح نګار ليکي د دې لفظ په تفسير او تشريح کښې نور هم ډير تاويلات دي خو بيا هم مونږ دا خبره واضحه کول ضروري ګڼو چې وليد بې له خپله پلاره مغيره بل چا ته نۀ دے منسوب کړے شوے. مغيره هيڅ حاجت نۀ لرلو چې يو داسې هلک چې نسب ئې نۀ وۀ معلوم ځان ته ئې منسوب کړے وے. ځکه چې ډير اولاد ئې وۀ او د خپلو زامنو په وجه ئې قريش کښې ډير عزت او وجاهت درلۀ.. (عبقرية خالد اردو ترجمه ص ۵۲) د مغيره وليد نه علاوه د زامنو نامې دا دي (۱) هشام (دابو جهل پلار) (۲) ابو اميه سهيل (د ام المؤمنين حضرت هند ام سلمهؓ والد) (۳) ابو ربيعه (د حضرت عياش چې له سابقون الاولون او د حبشې مهاجر دي پلار) (۴) ابوحذيفه (۵) هاشم (۶) حفص (۷) عبدالشمس (د حضرت وليدؓ چې مسيلمه کذاب برخلاف جنګ يمامه کښې شهيد شوي وو پلار) (۸) الفاکه (۹) عبدالله. دغسې د وليد (د حضرت وليد او حضرت خالدؓ) سره د مغيره لس زامن وو. (د ابو زيد شلبي مصري ليکلے سوانح عمري د حضرت خالد سيف الله اردو ترجمه ص ۳۸- ۴۲)

د قرآن کريم په آيتونو د غور کولو نه پس بايد چې ښکاره وي چې د غندلې کيدونکي (کۀ هغه وليد يا هر څوک وي) د بدو اخلاقو او خصائصو د ذکر نه پس ارشاد کيږي چې دې په دغو اعمالو کښې جوت دے پټ يا نامعلومه نۀ دے دومره کثرت او بې

حیایی سره او په جوته ئې کوي چې د دغو په وجه شرګند او پیژندلے دے. په خپل مال او زامنو د غاوره کیدو په وجه ئې ترې هیڅ پاک نهٔ شي. بیا د قرآن پاک په نزد هر یو وګړے د خپلو اعمالو ذمه دار. هم د هغو په وجه د ستائنې او غندنې وړ دے نو کهٔ الله جل شانه ولید غندلو نو د هغهٔ د اعمالو په وجه نه د هغهٔ د مور او مغیره د عمل په وجه. تر څو چې خان پردي نسب پورې د تړلو تعلق دے نو دا د غندنې خبره ده خو له روایاتو دا خو نهٔ شي لیدے چې ولید پخپله خان په مغیره او بنو مخزوم پورې تړلو بلکې دا چې مغیره ولګید زوے ئې کړو. نو دا خبره خان له داسې نهٔ ده چې د ولید ئې په لړ کښې غندنه شوے وے. ځکه چې په عربو کښې د اسلام نه وړومبے د زوي جوړولو رواج عام وهٔ. او په ځنو نورو قومونو لکه هندوانو کښې تراوسه جاري دے. د حضرت سید العالمین ﷺ د بعثت نه پس هم دا رسم د سورهٔ احزاب تر نزوله منع نهٔ وهٔ.

او کهٔ بالفرض مونږ د بحث له خاطره د زنیم معنیٰ هم بد اصله وکړو نو د ولید اسرائیلیت ترې نهٔ شي ثابتیدے. کهٔ د مغیره دعویٰ پرې صحیح وه نو مخزومي وهٔ. او کهٔ د بل چا زوے هم وهٔ نو قریش یا کم از عرب به وهٔ. په مکه معظمه یا خواؤشا کښې ئې خو د یهودو د آبادۍ چرته ذکر نشته کهٔ شته نو په مدینه منوره کښې چې له مکې معظمې تقریباً ۳۰۰ میله لرې ده. والله اعلم بالصواب.

۱۰ د حضرت خالدؓ د اسلام قبلولو واقعه چې په مخ بیانیږي کهٔ څهٔ کم و زیات هم لرې په مجموعي حیثیت هم دغسې ده.

ن ز ۲/۳۳ ډورن ص ۲۷ غسان. ن ح جلد ۱ ص ۸۰ او هم حاشیه ۲ د عقاد عبقریه خالد اردو ترجمه ص ۹۰ "عسفان" غسان د عربو د یوې قبیلې نوم دے.

۱۲. عبقریه خالد اردو ترجمه ص ۹۰ "په مسلمانانو مې حمله کول غوبنتل خو ومې نهٔ کړې شوه."

ص ۳۳

د حضرت خالدؓ بیان چې لکه ابو زید شلبي (خالد سیف الله ص ۸۲ - ۸۴) د طبقات ابن سعد تاریخ ابن عساکر او السیرة الحلبیه په بنا لیکلے دے په هغهٔ کښې له "ما له خانه ووې" تر "متردد او متفکر وم" (ن ز ۲/۳۳ ن ح جلد ۱ ص ۸۰ "باخود گفتم کہ پیش نجاشی بادشاہ حبشی نمی توانم رفت زیرا کہ او تابع دین محمد علیہ الصلوٰۃ والسلام گشتہ است اگر نزد ہرقل بادشاہ روم وشام روم او دین یہود یا نصرانی دارد کہ مرا نیز از ین دو دین یکے اختیار باید نمود، ومن از ین ہر دو دین بیزارم در ین امر متردد بودم" د عبارت په شان عبارت یا هم معنیٰ مضمون نشته. البته عبقریة خالد اردو ترجمه ص ۹۰ - ۹۲) کښې شته خو د نجاشي د اسلام راوړلو نه

پس دا الفاظ دي "او ما دا هم نهٔ غوښتل چې د روم او ايران مملکتونو کښې د دوي غلامي وکړم."

۲. يعني بغير، بې له ترددہ.

۳. ن ز ۲/۳۴ او پښتو ترجمه "..... علي الاسلام" ن ح جلد ۱ ص ۸۲"... الي الاسلام" صـ ۳۴

"گناه دي پـه کـمال دے" دا الفاظ زما د وړاندې نهٔ خو فارسي نسخو او نهٔ په بل کوم متعلق ماخذ کښې شته.

۲. فارسي عبارت هم دغه شان دے : "خالد گويد بخدا سوگند که از ان روز باز که من مسلمان شده ام در هر مهمے که آن سرور رارو ے نمود هيچ کس را از ياران خود برابر من نمی گردانيد و مرا بر اکثرے از اصحاب ترجيح می نمود" (ن ز ۲/۳۴ ن ح جلد ۱ ص ۸۲) دلته خواجه نعمت الله او لهٔ هر چا ئې چې اخذ کړے دے څخو ئې له غلو نه کار اخستے دے د حضرت خالدؓ پورته ياد شوي بيان (ص ۳۳ ص ۱) کښې د هغوي الفاظ داسې دي: "په خدائے تعالیٰ مې دې قسم وي چې له کومې ورځې ما اسلام قبول کړو له هغه ورځې راهسې رسول الله ﷺ به زما او نورو اصحابو تر مينځه فرق نهٔ کولو او په هره موقع به ئې زهٔ د نورو اصحابو سره شريک ساتلم. (د ابوزيد شلبي اردو ترجمه ص ۸۲) دا د حضرت سيد المرسلين ﷺ د خلق عظيم، مروت او مهرباني تقاضا وه چې په معمولي او عامو حالاتو کښې به ئې حضرت خالدؓ سره لکه د نورو اصحابوؓ سلوک فرمائيلو او هغوي سره به ئې په کارونو او مهمونو کښې شريک ساتل. سره د حضرت خالدؓ د خصوصي عسکري صلاحيت او عبقريت داسې يو مثال هم نشته چې دوي له ئې په مهمونو کښې په نورو اصحابوؓ چې عشره مبشره او نور سابقون الاولون پکښې هم شامل وو ترجيح ورکړے وي يا هغوي ئې له دوي نهٔ وي برابر کړي. وجه دا ده چې تولو اصحابوؓ نهٔ صرف دا چې د جهاد في سبيل الله شوق او جذبه تر انتهائي حده لرله بلکې د حضرت خالدؓ نه علاوه نور ډير حضراتؓ هم پکښې اعلي عسکري صلاحيتونه لرونکي وو. بيا دا چې د حضرت خالدؓ د اسلام قبلولو نه پس حضرت سيد العالمين ﷺ صرف درې کاله په دې دنيا کښې په نفس نفيس رونق افروز وو او په دې دومره موده کښې څومره عسکري مهمات چې آنحضرت ﷺ ته پيښ شوي وو د هغې ئې اکثر او بيشتر لکه د سابق په څېله نگراني او قيادت فرمائيلې وهٔ.

۳. ن ز ۲/۳۴ و ن ح جلد ۱ ص ۸۲ "ــــ همراه جعفر بن ابي طالب بہ غزوه موته فرستاد" يعني "حضرت جعفرؓ بن ابي طالب سره ئې د موته جنگ ته وليږلو" موته د شام بلقا نومې علاقې په سرحد د مواب په سهيل کښې د يوې آبادۍ نوم دے. د اسلام د لښکر اميران حضرت سرور کائنات

ﷺ داسې نوملې او مقرر فرمائيلي وو چې د لښکر قيادت به زيدؓ بن حارثه کوي کۀ هغوي شهيد شي نو جعفرؓ بن ابي طالب او کۀ هغوي هم شهيد شي نو عبداللهؓ بن رواحه به ئې کوي. د اسلامي لښکر ګنه درې زره وه چې دا درې واړه حضراتؓ شهيد شول نو مسلمانانو حضرت خالدؓ په اميرى وټاکلو.

۴. دا جنګ نصرانيانو، د هرقل قيصر روم فوځ سره شوے وۀ د قيصر فوځ تقريباً يو نيم لک وۀ تقريباً پکښې نيم روميان او نيم د شام او خواؤشا نصراني عرب قبائل غسان،، لخم او جذام وغيره وو. د جنګ سبب دا وۀ چې غسانيانو د حضرت سرور کائنات ﷺ سفير حضرت حارثؓ بن عمير شهيد کړې وو.

۵. کۀ هر څو حضرت خالدؓ يو خوا د ډير لوے شجاعت او سرفروشانه جذبې ثبوت ورکړے وۀ (تردې چې انۀ تورې ئې په لاس کښې ماتې شوے وے) او بل خوا ئې داسې فوځي نقل او حرکت وکړو چې روميان ئې اريان دريان کړل خو اګر کۀ څنې مؤرخانو ليکلي دي خو دا صحيح نۀ ده چې فتح د مسلمانانو شوې وه او ډير کفار ووژلے او په بند شول. او مسلمانانو ډير مال غنيمت راوړ. حضرت خالدؓ د خدائے تعالىٰ په امداد او فضل د روميانو د حيرانولو نه پس دا کمال وکړ چې اسلامي لښکر ئې د روميانو له نرغې راوويستلو او د يوې ډيرې منظمې پسپايې په ذريعه ئې ترې په داسې حال کښې سلامت مدينې ته راوست چې د مسلمانانو ډير لږ نقصان شوے وۀ. او له فوځي نقطهٔ نظره دغه کاميابي له فتحې کمه نۀ وه. هم د جنګ موته په موقع حضرت سرور کائنات ﷺ مهرباني او نوازش وفرمائيلو او حضرت خالدؓ ئې د سيف الله په خطاب معزز او سرفراز کړل.

۶ وفات سرور کائنات ﷺ.

۷. ټولو فارسي او پښتو نسخو او د ډورن ترجمه ص ۲۹ کښې طلحه دے. ډورن په تعليقات (ص ۴۷ په تسلسل د دويمې حصې د صفحو) کښې په حواله د طبري، او ن ح جلد ۱ ص ۸۳ حاشيه ۱ هم په حواله د تاريخ طبري او تاريخ ګزيده طليحه ليکلے دے. هم طليحه صحيح دے. پوره نوم ئې د عربو د قاعدې مطابق طليحه بن خويلد الاسدي الخزيمي دے. دۀ د سرور کائنات ﷺ د وصال نه وړومبے د مزاج مبارک د ناسازى د خبر په اوريدو دعوىٰ کړې وه.

۸. طليحه قتل شوے نۀ وۀ بلکې د شکست نه پس شام ته وتښتيدو بيا ورته الله پاک هدايت وفرمائيلو مسلمان شو. د حضرت فاروق اعظمؓ په مبارک عهد کښې د حج نه پس مدينې ته لاړ بيعت ئې وکړ بيا د اسلام لښکر کښې شامل شو او د کفر برخلاف په جهاد کښې شهيد

شو. (ابن خلدون جلد ۳ اردو ترجمه ص ۲۵۵، ۲۵۶ ابو زید شلبي ص ۱۴۲ـ ۱۴۸ عباس محمود العقاد ص ۱۸۱ ـ ۱۹۱) طلیحه سره د حضرت خالدؓ مقابله د بزاخه په مقام (چې له مدینې منورې شمال مشرق او له خیبره مشرق څخو شمال ته پروت دے) شوې وه.

۹. د بنو تمیم د څانګې بنو ثعلبه بن یربوع.

زما د ورانـدې پښتـو نسـخـو (ا او ب) کښې بطاع دے چې صحیح نهٔ دے بطاح د بنو ثعلبه بن یربوع مسکن وهٔ چې د بزاخه مشرق ته واقع دے.

۱۱ اختـلاف د نـظـر د ورانـدې حضرت خالدؓ حکم وفرمائیلو چې مالک بن نویره او د هغهٔ ملـګـري دې پـه قید کښې وساتلے شي. اتفاقاً هغه شپه ډیره یخه وه حضرت خالدؓ د قیدیانو د کیمپ پهـره دارانـو تـه چې له بنو کنانه څنې وو او حضرت ضرارؓ بن ازور ئې مشر وهٔ حکم ولیـږلـو چې "دافـئـوا اسـراکـم" یعـنې خپلو اسیرانو (قیدیانو) ته د ګرمۍ رسولو بندوبست وکړئ. د مـدافـاه مطلب د بنو کنانه په محاوره کښې وژل وو نو پهره دارانو قیدیان ووژل او مـالک بـن نـویـره د حـضرت ضرارؓ له لاسه ومړ. (شلبي ص ۱۵۴، ۱۵۵) د الفاظو د دغسې معنوي اختلافاتو مثالونه د نورو ژبو نه علاوه د پښتنو په بیلو بیلو علاقو او قبیلو کښې هم ډیر شته.

صـ ۳۵

وګـوره ابن خلدون جلد ۳ ص ۲۶۲ ـ ۲۶۴. هر څو کهٔ حضرت ابوقتادهؓ په اخلاص او ښهٔ نیت حضرت خالدؓ سره اختلاف کړے وهٔ خو بې اجازته ترې مدینې منورې ته راغلي وو نو خـلیـفه رسول الله حضرت صدیق اکبرؓ د حضرت ابوقتادهؓ په دغه طرز عمل د ناراضګۍ اظهار وفـرمـائیـلـو او ورتـه ئـې د بیـرتـه تلو او خپل امیر سره د کار او تعاون کولو ارشاد وکړو چې حضرت ابوقتادهؓ په څائے راوړ.

۲. یمامه چې د بنو حنیفه علاقه ده د مکې معظمې او طائف شمال مشرق او د مدینې منورې مشرق ته واقع ده.

۳. فارسي نسخې "بامارت آن محال اشتغال فرمودند" ن ز ۲/۳۶ ن ح جلد ۱ ص ۸۵.

۴. پښتـو ترجمه "کراول" قراول د هراول (د فوځ مخکښیني حصې) ته هم او هغو ورانډینو سپـاهیـانـو تـه هـم وائي چې د مخالف فوځ د حال نه څان خبروي. او خپل فوځ ته ئې رسوي. فـارسـي نسخې (ن ز ۲/۳۶ ن ح جلد ۱ ص ۸۶ "چون تلاقی طرفین واقع شد" یـعـنـې کوم وخت چې دواړه طرفه مخامخ شول.

دا جنگ د الابـلـه جنگ بللے شي چي د الابله او الحفير خواؤشا شوے وۀ. دا ځايونه د عـراق مشهور ښار بصرې او د دجلې او فرات ګډون ځائے ته نزدې پراتۀ دي. چي جنګ تود شـو نو هرمز ولګيدو حضرت خالدؓ ته ئې د مبارزت بلنه وکړه. [طبري د بلعمي فارسي ترجمه ص ۲۶۴، شـلـبـي ص ۱۸۷، ۱۸۸، عـقـاد ۲۵۲، ۲۵۳) خو د ابن خلدون جلد ۳ ص ۲۷۵، ۲۷٦ له رويه هرمز ته حضرت خالدؓ بلنه کړې وه)] او ايراني سپاهيان ئې پره کړي وو چي په حـضـرت خـالـدؓ حـمـلـه وکـړي خـو وړومبے د دې نه چي ايراني سپاهيانو حرکت کړے وے حـضـرت خـالـدؓ ولـګـيـدو هـرمـز ئې قتل کړو او خپل لښکر ته ئې توجه وفرمائيله. په دې اثنا کښـې قـعـقـاع بـن عمرو تميمي د ايراني سپاهيانو نقل و حرکت وليدو نو د خپلې دستې سره مـدافعـت لـره وروړانـدې شول. بيا عام جنګ ولګيد او ايرانيان مات شول... دغه جنګ په ۱۲ هـجـري د حضرت صديق اکبرؓ په عهد کښې شوے وۀ. د ايران بادشاه دغه وخت اردشير وۀ. د هغۀ زامن قباد او انوشجان هم په دې جنګ کښې شريک وو. ابن خلدون دغه جنګ د ذات سلاسل په نامه يادوي او ځائے د ابله او حفير خواؤشا ښائي.

۲. مـذار د ميســان پـه عـلاقـه کښې د بصرې او واسطې تر مينځه يو لوے ښار دے ارد شير د هـرمـز د قتل او د الابـلـه پـه جـنـګ کـښـې د ايراني فوځ د شکست نه پس قارن د مسلمانانو مـقـابـلـې ته نۀ وۀ راروان کړے. بلکې چي کوم وخت هرمز په عراق کښې د حضرت خالدؓ د پيش قـدمـي نـه خبـر شـو. نـو د ايران بادشاه ئې خبر کړو هغۀ د هرمز د کومک دپاره قارن وروليـږلـو خو د هغۀ د رسيدو نه وړومبے حضرت خالدؓ ايرانيان په جنګ مجبور او مات کړل (ابـن خـلـدون جلد ۳ ص ۲۷٦، ۲۷۷ او شلبي ص ۱۸۹ ـ ۱۹۱) په تاريخ ابن خلدون کښې دغـه جـنـګ د نهـر جنګ بللے شوے دے چي لکه له بيانه ئې ښکارې د يوۀ رود يا نهر په غاړه شوے وۀ.

۳. قارن د معقل بن اعشٰي، انوشجان د عاصم بن عمرو او قباد د عدي بن حاتم طائي له لاسه د جـنـګ پـه ميدان وژلي شوي وو. (ابن خلدون جلد ۳ ص ۲۷۷ او شلبي ص ۱۹۰ طبري د بـلـعمي فارسي ترجمه د عاصم بن عمرو په ځائے عاصم بن الخطاب او معقل په ځائے حضرت خالدؓ د قارن قاتل ښائي ص ۲٦۵، ۲٦٦)

۴. عـمـرو بن العاص. د (ع) په زور د (م) په سکون د (ر) په وقف او (و) په حذف لوستل او وئيل پکار دي. د عمرو بن العاص ترمينځه د بن د حذف په صورت کښې اضافت ابني لوستل او وئيـل پـکـار دي. عـربـي اضافت به د آخر په رفع (پيښ لګولو سره) وي او فارسي به د (ر)

لانـدې زيـر لـوستـلـو يـا وئيلو سره. د ډورن انګريزي ترجمه ص ۳۱ کښې هجه Amru چې پکښې د واؤ دپاره u راوړلے شوې ده د عربي تلفظ سره سمه نۀ ده.

۵. آنجـنـاب چې پـه دغـه نـوټـونـو کښې ئې وړومبے هم مبارک ذکر راغلے دے سابقون الاولـون عشـره مبشره او مجاهدين بدر کښې شامل او له هغو صحابه ؤ کرام ځنې دي چې په بـارګـاه رسالت کښې ورته د قرب خصوصي مقام حاصل دے. له دغه مبارکه او عالي بارګاه د امين الامة پـه خطاب ممتاز او سرفراز دي. ځکه چې په غزوه بدر کښې خپل پلار جراح سره مـقـابـل شـول او هـغـه ئـې ووژلـو. حـضرت سرور کائنات ﷺ ورته وفرمائيل چې تۀ د امت مسـلمه امين ئې. له تا هيڅ کله د امت مسلمه امانت خيانت او اعتماد ضائع کيدونکے نۀ دے. رضي الله تعالیٰ عنه.

۶ پښتو نسخې خمصين.

۷. ن ا و ن ب و ډورن ص ۳۱ زيـد بـن ابوسفيان. ن ز ۲/۳۷ زيد بن ابو تعبان. صحيح يزيد بن ابوسفيان مط ن ح جلد ۱ ص ۸۸.

۸. د دوي د نـوم پـه املا کښې عموماً بې احتياطي کيږي او زما په مخکښې فارسي نسخه ن ح جـلـد ۱ ص ۸۸ او پښتـو نسـخـو کـښـې داسې شوې ده چې ش ر ج ي ل. شرجيل لوستل شـې. ډورن ص ۳۱ ئې هجه ش ر ج ب ي ل Sherjebeal کړې ده صحيح هجه ئې شُ رَ حُ بِ یْ ل او امـلا ئـې شـرحبيل ده. وړومبي دړې حضرات قريش دي او حضرت شرحبيل چا له بنو کنده او چا له بني ازد ګڼلي دي.

۹. هيرا کلئيس Heraclius

حتـي تـاريـخ عـرب ص ۱۴۸ــ ۱۵۲، تاريخ شام ص ۲۱۲ ـ ۲۱۵، تهيوډرس سر وليم ميـور تـاريـخ خـلافـت ص ۶۹ ــ ۷۷ــ ۱۳۹ تهيـوډؤ جنرل سرجان ګلب دي ګريټ ايرب کـانکويسټ (د عربو عظيم فتوحات ص ۱۷۶ ـ ۱۷۸) تهيوډرس صفحه ۲۲۸ ـ ۲۲۰ ـ ۲۴۰ ــ ۲۴۳ تهيـوډروس خـو لکه چې د ګلب له بيانه ښکاري ص ۱۷۸ تهيوډروس د شام د رومي فـوځـونـو کـمانډر وۀ او هم هورې په جنګ کښې قتل شوے وۀ. او د تهيوډور ذکر پس ته د مصـر د مهـمـاتـو پـه ضـمـن کښې راځي. جنرل جے ايف سي فلر "دي ډيسائيو بيټلز آؤ دي ويسـټـرن ورلډ" (د مغـربـي دنيا فيصله کن جنګونه) جلد ۱ ص ۲۳۲ د اجنادين په جنګ کښې تهيـوډورس او د يـرمـوک پـه جـنـګ کښـې تهيوډورس ټريټهورئيـس. محمد حسين هيـکـل "ابـوبکر" (اردُو ترجمه) ص ۳۸۸ تدارق (تهيوډريک) چې لاطيني خط کښې به ئې املا theodoric وِی. ن ح جـلـد ۱ ص ۸۹ د تدارق په مخکښې فاضل مصحح او محشي له

خانه په برغدو ليندو کښې ((ټهيوډور)) ليکلے دے.

پښتو نسخې او ډورن د حارثه په ځائے حارث. ډورن کښې شيباني حذف. ن ز ۳۸/۱ ثعباني ن ح جلد ۱ ص ۱۹ ثعباني خو فاضل مصحح او محشي ئې تصحيح کړې ده. صحيح هم شيباني دے لکه چې حتي (تاريخ عرب ص ۱۴۸) ليکي د بنو شيبان قبيله د بکر بن وائل خانګه ده.

۱۲. خواجه نعمت الله په سراق کښې ايرانيانو سره د حضرت خالدؓ د صرف دوؤ جنګونو ذکر کړے دے خو چې کوم وخت هغوي د خليفۀ رسول الله حضرت صديق اکبرؓ د حکم په تعميل کښې شام ته روانيدل نو پس له ډيرو جنګونو هغوي تقريباً ټول عراق عرب فتح کړے وۀ. چې کوم لوے جنګونه د آنجنابؓ په دې مهم کښې واقع شوي دي دا دي : د ابله جنګ، د مذار جنګ، دولجه جنګ، د اليس جنګ، د امغيشيا جنګ، د حيره جنګ، د انبار جنګ، د عين التمر جنګ او څني نور چې په ټولو کښې ورله الله تبارک و تعالیٰ فتح او ظفر ورکړے وۀ. د عراق د مهم په دوران کښې هم د حضرت خالدؓ د دومة الجندل او فراض په جنګ کښې روميانو سره مقابله شوي وه. او روميانو له ئې شکست ورکړے وۀ. د فراض جنګ د حضرت خالدؓ د قيادت لاندې د عراق د مهم اخري جنګ وۀ. فراض د لرغونو ايراني او رومي مملکتونو په سرحد هورې واقع دے کوم ځائے چې د شام، عراق او الجزيرې پولې سره جنګيږي. په عراق کښې حضرت خالدؓ سيف الله د محرم ۱۲ هجري نه تر صفر ۱۳ هجري پورې د اسلامي فوځونو د قيادت فرائض په ځائے راوړې او په بريو ئې مهمونه سر کړي وو. دغسې هغوي تقريباً يو کال او دوه مياشتې هورې وو. (شلبي ص ۱۸۲ — ۲۲۷، عقاد ص ۲۵۳ ـ ۲۵۷، محمد حسين هيکل "ابوبکر" اردو ترجمه ص ۳۹۶ ـ ۴۵۱)

۱۳. حضرت صديق اکبرؓ ته چې په شام کښې د روميانو د جنګي تيارو او د اسلامي لښکر د مشکلاتو خبر ورسيد نو وې فرمائيل چې "والله لانسين الروم وسلوس الشيطٰن بخالد" خدائے کو زۀ به له روميانو د هغوي شيطاني وسوې د خالدؓ په ذريعه لرې کړم. (مولانا سعيد احمد صاحب تاليف "ابوبکر ص ۳۷۴، ميور ص ۷۰، عقاد ص ۲۷۹) او جناب سيف الله ته ئې امر وفرمائيلو چې شام ته لاړ شي او هورې د اسلامي فوځونو قيادت سنبال کړي. د امر عالي په تعميل کښې هيڅ ډيل نۀ وۀ. حضرت خالدؓ چې شام ته د تلو دپاره سره د خپله لښکره کوچ وفرمائيلو او قراقر ته ورسيدل نو دا فکر ئې وکړو چې کۀ په عامه او مشهوره لار ځي نو په لاره کښې د دښمن قلاګانې او چاونۍ دي اورمرو به مزاحمت کوي او خواه ناخواه به ورسره جنګيدل شي. دويمه لار کۀ اسانه هم ده پکښې د جنګ جګړو خطره هم نۀ وه خو ډيره

وړده وه نو په ديو کښې په هرې يوې د تلو نتيجه د جناب سيف الله او د هغوي د لښکر د شام اسلامي فوځونو سره په ډير ښند يو ځائے کيدل وو. او دغه معطلتيا د حضرت صديق اکبرؓ مبارک امر د نظر د وړاندې جناب سيف اللهؓ هيڅ کله ته شو خوښولے. دې دپاره هغوي په بيديا کښې په يوه داسې لاره تلل غوره کړل چې د ځو ورځو په مزل کښې چيرې د ګوټ اوبو درک هم نهٔ وهٔ. او د ماحول د هيئت او نوعيت په وجه د لارې د خطا کيدو هم ډيره ويره وه. چې جناب سيف اللهؓ ته د لارې د خطرو او ګرانو سختو په باره کښې عرض وکړے شو نو لکه چې سروليم ميور (تاريخ خلافت ص ۱۷) ليکي آنجنابؓ وفرمائيل چې "زهٔ به هم په دغې لاره ځم. د خدائے په فضل د کلکې ارادې په مخکښې هيڅ هم خطرناک او ناقابل تسخير نهٔ وي. د رهبر رافع بن عميره الطائي په صلاح مشوره ئې ښې غټې ځرښې د پوخ عمر اوښې راوغوښتے ورومبے ئې ښې تږے وساتلے او چې له تندې ئې بده ورځ شوه نو بيا ئې پرې ښې ډيرې اوبهٔ وڅښولے. شونډې ئې ورله وځيرلے او وتړلے چې شخوند نهٔ ماتوي. اوښ خو هسې هم اوبهٔ تر ډيرو ورځو په لړمانهٔ کښې ساتلے شي. او داسې به ديو اوښو نورې هم تر ډيره وخته ساتلے. ډيرې اوبهٔ په لوښو يا مشکونو کښې هم د خاله سره واخستے شوے او بيا لښکر د حضرت سيف اللهؓ په قيادت کښې په مخه روان شو. په لاره به هغه اوښې حلالولے کيدے شوے او د هغوي غوښې او په لوښو مشکونو کښې اوبهٔ به لښکر خوړلے او څښلے او د اوښو په معدو کښې اماني اوبهٔ به پس له صفا کيدو په اسونو او نورو پاتو ځناورو څښولے شوے. د سفر په وروستی ورځ اوبهٔ خلاصې شوے خو پس له څهٔ لټونه او تکليفه هغه ځائے چې پکښې د اوبو توقع وه بيامونده شوے. زمکه وکنستے شوه او ترې لاندې نه يوه چينه راووتله. لښکريانو اوبهٔ وڅښلے او د پاتې لارې دپاره ئې هم اوبهٔ واخستے او دغه شان حضرت خالدؓ د کوچ په اتلسمه ورځ چې د مماد په وچه کړسه بيديا کښې د سفر پينځهٔ ورځې هم پکښې شاملې وے سره د خپل لښکر او ساز و سامان بې د يادونې د څهٔ زيان تاوان روغ سلامت لکه چې حتي وائي په يوهٔ ډرامائي ناڅاپتيا dramatic suddeness د دمشق په شمال مشرق کښې د رومي فوځونو په عقب کښې ښکاره شول. دلته د آنجناب د نور قسمه مشکلاتو سره مقابله شروع کيدونکې وه لکه چې بايد له ليره بيانه جوړه وي د حضرت خالدؓ دا کوشش وهٔ چې تر څو ممکنه وي زر تر زره په شام کښې د اسلامي فوځونو سره د يو ځائے کيدو دپاره له دښمنه ډډه کونکي او له ستر ګو ئې خان غړونکي خپل کوچ جاري وساتي او دا امکان او هم تر ډيره لويه حده کامياب شول خو آنجنابؓ چې کوم ځائے د شام په حدودو کښې داخل شوي وو اسلامي فوځونه له هغه ځايه په کافي فاصله سهيل لورې ته پراتهٔ وو. او هغوي ته

رسیدل اسان کار نهٔ وهٔ. خو دلته هم الله جل شانه په هغوي خپل فضل وکړو د هغوي بې نظیره ذاتي شجاعت او بې مثله عسکري صلاحیتونه لې په ښهٔ شان ښکارهٔ کړهٔ او حضرت خالدؓ په یوهٔ وخت جنګ او کوچ دواړه جاري ساتونکي نورو اسلامي لښکرو ته د رسیدو دپاره په بل رنګ او بل ماحول کښې مښود شروع کړو. حضرت خالدؓ د عراق او شام ترمینځه نخلستان کښې واقع ښار تدمر (پامرا) نه تیر شول او په حوارین نومې مقام ئې دښمن پس له کافي خاني نقصان ورته رسولو مات کړو. (ازدي ص ۱۳۱، ۱۳۲) او بیا د دمشق په خوا کښې لرې تقریباً پینځلس میله خاتیز لوري په مرج راهط کښې د غسان قبیلې په نصراني عربو حمله وکړه او هغوي ئې هم مات کړل. د حتي په خیال کښې په شام کښې د داخلې نه پس دا د حضرت خالدؓ دښمن سره ورومبی مقابله وه. چې په اپریل ۶۳۴ ء کښې شوي وه. زمونږ د زمانې یو لوے فوځي ماهر او مؤرخ لفټیننټ جنرل سر جان بیګټ ګلب په خپل یوهٔ کتاب"دي ګریټ ایریب کانکویسټ" (د عربو عظیم فتوحات) کښې لیکي چې اګر کهٔ عرب مؤرخان د (حضرت) خالد کوچ یوه کامیابي ښائوي او په مرج راهط کښې د هغوي د فتح یابی دعوی کوي خو د دغې دعوې صحت مشکوک دے. کهٔ (حضرت) خالدؓ په مرج راهط کښې فتح کړے وے نو د هغهٔ وظیفه به دا وه چې دمشق ته ورنږدې شوے او زبیښلے ئې وے او رومیان ئې به دې مجبوره کړے وے چې د یرموک په خوا کښې ئې خپل دفاعي پوزیشن پرېښے وے. (ص ۱۳۴ ـ ۱۳۶) هغه دا هم لیکي چې د دویم جنګ عظیم په دوران کښې په ۱۹۴۱ ء کښې به شام د حملې دپاره په صحرائے خماد کښې د برطانوي فوځونو د یوې برخې مارچ یوه بهترینه او کامیابه نمونه وه او د (حضرت) خالدؓ کوچ کامیاب نهٔ وهٔ ځکه چې سوئ ځنځه د حضرت خالدؓ لښکریان له تندې مرګ ته نزدې شوي وو. (ص ۱۳۶) زهٔ به د خواب دپاره ورومبے د ګلب د انتقاد وروستې برخه واخلم او له اوله به هم د هغهٔ له اړخه د انتقاد د دې برخې د بې ځایه کیدو نشاندهي وکړم. هغهٔ پخپله ښهٔ انصاف کړے دے او وائي چې برطانوي فوځونه مشیني وو او د حضرت خالدؓ لښکریان په اوښانو وو نو کومو فوځونو سره چې لارې موټرې او ټرکونه وو نو هغوي ته د اوبو وړو او لارې پریکولو مسئله کله داسې پیښه وه لکه چې جناب سیف اللهؓ او د آنجناب لښکریانو ته. د برطانوي فوځ کوچ د جنرل شپ (فوځي قیادت) او همت دومره کامیابي نهٔ وه څومره چې د سائنس او مشین.

تر څو چې د ورومبي اعتراض تعلق دے نو ګلب د عربو مؤرخینو د دعوې په مقابله کښې د بل اړخ یعنې د رومي یا نورو مغربي مؤرخینو څهٔ داسې سند یا روایت نهٔ دے نقل کړے چې د ورومبو یادو شوؤ مؤرخینو په مرج راهط کښې د حضرت خالدؓ په دښمن د فتحیابی په

حقله د دعوې رد پرې کيږي بلکې خپله اندازه ئې لګولې او قياس ئې چلولې دے. نو د رواياتو اختلاف نظر د وړاندې حضرت خالدؓ چې کوم وخت شام کښې داخليدل هغوې سره نهۀ زره فوځ وۀ څوک ئې د پينځو او شپږو سوؤ خواؤشا يادوي. ازدي ص ۱۲۹ ئې اتۀ نيم سوه بيانوي. ازدي چې د حضرت صديق اکبرؓ کوم مکتوب هدايت مصحوب شام ته د تلو په باره کښې د حضرت خالدؓ په نامه نقل کړے دے له هغۀ هم ښکاره ده چې د جناب خلافت مآبؓ منشا دا نۀ وه چې حضرت خالدؓ د ځان سره ډير لښکر يا سازوسامان واخلي بلکې امر عالي ئې دا وۀ چې حضرت خالدؓ دې حضرت ابوعبيدهؓ او د آنجنابؓ ملګرو سره يو ځائے شي. او د شام د ټول اسلامي لښکر د سالارۍ فرض په خپله ذمه واخلي. (ص ۱۱۸، ۱۱۹) د دغې مبارک خط نه وړومبے چې د حضرت امين الامت ابوعبيدهؓ د عريضې په ځواب کښې حضرت صديق اکبرؓ کومه هدايت نامه حضرت امين الامتؓ ته ليږلې وه په هغې کښې ئې هم د ډاډ او نورو هداياتو نه علاوه دا فرمان اصابت توامان کړے وۀ چې تر څو چې د بارګاه خلافت نه حکم صادر نۀ شي د ښاريو محاصرې دې نۀ شي کړے. (ازدي ص ۹۳، ۹۴) په داسې حال کښې چې د جناب سيف اللهؓ په ذمه د شام د جنګي محاذ په لړ کښې وړومبي وظيفه دا وه چې هغوې دې د نورو اسلامي فوځونو سره يو ځائے شي هغوې څنګه د دمشق غوندې د مستحکم ښار د نيوؤ اقدام کولے شو. دلته به دا وينا مناسبه وي چې په شام کښې د داخلې نه تقريباً يو کال پس (مارچ ۶۳۴ء) چې مسلمانانو په شام کښې د خپل مجموعي قوت سره د دمشق محاصره وکړه نو پس له شپږو مياشتو ئې په ستمبر ۶۳۵ء کښې فتح کړے شو. (حتي تاريخ عرب ص ۱۵۰ تاريخ شام ص ۲۱۴) د بصرئ خواؤشا کښې جناب سيف اللهؓ سره د خپلو غازيانو د جناب امين الامتؓ او د هغوې مجاهدينو او نورو اسلامي فوځونو سره يو ځائے شول او بيا د روميانو مقابلې ته د يرموک غزا ته لاړل. مرج راهط کښې په نصراني غسانيانو د حضرت خالدؓ د برې د بيان نه پس حتي په ډيرو لږ خو ښو ښکلو او موزونو الفاظو کښې د حضرت خالدؓ د عسکرې قابليت، نقل و حرکت او مخلصانه جذبې عکاسي کوي. "هر کله چې خالد د جنګي اقداماتو د عمومي لائحه عمل په جوړولو کښې ډير هوښيار Shread Strategist وۀ. هغه د خپلو ملګرو فوځي جرنيلانو د فوځونو سره، چې په مشکلاتو کښې ګير وو د يو ځائے کيدو دپاره په اردن کښې سهيل لورې ته په مخه روان وۀ نۀ خو د ځان لويولو او اهمولو او نۀ د اولجې کولو خيال هغه له خپلې لارې واړولے شو." د ګلب په شان زمونږ د عصر يو بل لوے فوځي ماهر او مؤرخ چې د برطانوي مشيني فوځونو له وړومبو معمارانو څخه دے ميجر جنرل جے ايف سي فلر د عراق نه تر شامه د حضرت خالدؓ کوچ ته برق رفتاري

وائي. (د مغربي دنيا فيصله كن جنگونه جلد ۱ ص ۳۳۲)

دلته به د دې خبرې جوتول هم پكار وي چې كۀ په ۱۹۴۱ ء كښې انگريزان كۀ هر څو د جرمنيانو فتوحاتو پريشانه كړي او ډيرو گرانو سختو ته مخامخ وو خو په هر حال د شام په فرانسوي فوځونو بر وو فلسطين او عراق دواړه د انگريزانو د ولقې لاندې وو. د رومي درياب له لور به ورله هم امداد راتلې شو. فرانس چې د چا په شامي مقبوضاتو انگريزانو قبضه كول غوښتل د هټلر د فوځونو له لاسه نتلې، وهلې شوې او په پښو ئې پريوتې وۀ. او هورې په وشي كښې چې كوم حكومت وۀ هغه عملاً هم د جرمن هائي كمانډ د لاندې وۀ او د هغو د احكامو كۀ څۀ وو باوجود د فرانسويانو د جذباتو د كيفيت او نوعيت په حقله څۀ ونيل غير ضروري دي. د انگريزانو په حمله آور فوځ كښې فرانسيسي رضاكار فوځيان هم شامل وو نو كۀ د برطانوي فوځونو په شام كښې د داخليدو نه پس ورسره په شام كښې سركاري فرانسوي فوځونو څۀ مقابله هم وكړه نو اصليت ئې له دې هم ښكاره دے چې د جون په اتم تاريخ انگريزانو حمله كړې وه. او په دولسمه جولائي جنگ ختم وۀ. فرانسوي فوځونه ورته سلامي شوي وو. (د سرونسټن چرچل "دي سيكنډ ورلډ وار" (دويم عالمي جنگ د جلد ۳ ص ۲۷۲ ـ ۲۸۱) په عكس د دې د مادي وسائل او د سرپو د گڼې د ډير كمي باوجود صحابۀ كرام رضي الله عنهم د دنيا د دوۀ تهولو نه لويو مملكتونو روم او ايران د مقابلې دپاره پاسيدلې وو او د حضرت خالدؓ او د هغوي د ملگرو جرنيلانو مقابله دغه وخت د زيات طاقتور او وسيع مملكت روم سره وه چې په دنيا كښې ئې د ټول نه زيات منظم او تربيت يافته فوځ لرلو. مجموعي حالات او كوائف د نظر د وړاندې د عراق نه تر شامه د حضرت خالدؓ سيف اللهؓ كوچ خان له علاوه د آنجنابؓ له نورو حيرت انگيزو او عظيمو كارنامو په حقيقت كښې د عسكري فطانت، كلك عزم او د گرانو سختو نه د بې پروايې يو داسې شاهكار دے چې د دنيا په عسكري تاريخ كښې ئې مثالونه ډير كم موندۀ شي. او حتي ورته په خائے "د صحرا د داستان شجاعت بې مثاله كارنامه" وائي. (تاريخ شام ص ۲۱۴) او دغه عظيمه كارنامه د صحابه كرام په الله جل شانه د توكل او د هغۀ په لاره كښې د ايثار او قرباني له بې نظيره او بې مثاله نمونو يوه نمونه ده.

په هر حال د يادو شوۀ دوۀ واقعو په حقله دې د گلب د ليك نه دا نتيجه اخذ نۀ شي چې هغه دحضرت خالدؓ د عسكري عظمت نه منكر دے بلكې هغۀ څو ځايه د حضرت خالدؓ د شخصي او ذاتي شدت او قوت (ص ۱۳۲) نه علاوه د متحرك، محرك، او جارح فوځي قيادت ډيره ستائنه كړې ده. (۱۴۲) او ليكلي ئې دي چې "خالد د انتهائي درجې قابل او

جارح كماندر وه. هميشه په اقدام كښې ورومبے او ذمه وارى قبلولو ته تيار....." (ص ۱۵۱)

۱۴. پښتو نسخې "بصره" فارسي نسخې "بصريٰ" (بُ صُ ر یٰ) چې هم دغه صحيح نوم دے لکه چې بايد له تيرو نوټونو ص ۳۶ (۱) جوته وي بصره په شام کښې نه بلکې په عراق کښې ده. او د بحث د لاندې واقعاتو تر وخته ۱۳ هجري ۶۳۴ء لا آباده شوې هم نۀ وه. دغه ځائے ابتداً په طور د يوې چاونۍ په ۶۳۸ء (عهد فاروقيؓ) کښې جوړ شوے وۀ. (د ټوئنبي او مائزر تاريخي اټلس او ګزيټيئير ص ۱۴) او يا ترې څو ورځې شپې وړاندې (هم عهد فاروقيؓ) کښې. (حتي تاريخ عرب ص ۱۵۰) په عکس د دې د جنوب مشرقي شام د حوران علاقې بصريٰ نومے ښار ډيره لرغونې آبادي ده. ګلب (ص ۱۴۲) ليکي چې دغه ځائے له هغو لسو يوناني ښارونو څخه يو دے چې سکندر جوړ کړي وو. حتي (تاريخ شام ص ۲۹۳) ليکي چې د رومي شهنشاه تراجن په عهد کښې دغې آبادۍ لره ډير وسعت ورکړے شو او ورله د "نوواتراجانه بومتريٰ" نامه ورکړے شوه او دمشق، رومي درياب او سرۀ درياب او ايراني خليج ته د تلونکو کاروان لارو ګډون ځائے وۀ. او د شهنشاه ډيو کليشئين نه پس د عربي صوبې صدر مقام شو.

۱۵. پښتو نسخو او ن ز ۱/۳۸ او لکه چې د ن ح جلد ۱ ص ۹۰ حاشيه ۳ نه ښکاري نورو فارسي نسخو کښې هم بيت حزين دے. البته فاضل مصحح او محشي په متن کښې درستي کړې ده او بيت جبرين ئې ليکلے دے. ډورن ص ۳۱ صحيح شکل بيت جبرين لري خو کۀ ډورن د ځان د وړاندې د نسخې عبارت صحيح ترجمه کړے وي"..... روميانو اجنادين کښې خپل کيمپ پريښود" نو د هغۀ د نسخې د متعلق ځائے عبارت له نورو نسخو بيل ليدۀ شي.

دغه جنګ د اجنادين (ا ج ن ا د ے ن) په جنګ مشهور دے. اجنادين د يروشلم (بيت المقدس) نه لويديز سهيل ته او د الله او الرمله نه سهيل څخو ځاتيز لوري ته پروت دے. بيت جبرين د فلسطين د يوې ضلعې نوم دے چې اجنادين او بيت جبرين دواړه ځايونه پکښې واقع دي. او دويم ځائے له ورومبيه سهيل رويه پروت دے.

زما د وړاندې نقشو کښې ما نۀ جلف او نۀ جلق ومونده خو د نظر د وړاندې د واقعاتو په بيان کښې ابن خلدون (اردو ترجمه جلد ۳ ص ۲۹۷) د جلف په ځائے جلق لري او د ن ح جلد ۱ ص ۹۰ حاشيه ۳ محشي هم ليکي چې دا نوم جلق دے او په حاشيه کښې له روضة الاحبابه نقل شوي عبارت کښې هم جلق دے.

ن ز ۲/۳۸ ن ح جلد ۱ ص ۹۰ "سیصد وبست ہزار بود کہ سہ لک وبست ہزار باشد" یعني دري سوه (زره) او شل زره چې دري لکه شل زره وي. په ترجمه کښې قوسین له ما دي د ن ح فاضل محشي چې په حاشیه ۴ کښې د روضه الاحباب کوم عبارت نقل کړے دے له رویه ئې د کفارو د لښکر ګڼه د روایاتو بیلتون د نظر د وړاندې اویا زره، دوه لکه څلویښت زره او دري لکه شل زره وه او د اسلامي لښکر شپږ دیرش زره.

۲. ن ز ۲/۳۸ ن ح جلد ۱ ص ۹۰ "ابوعبیدہ وخالد فرمودند تا مسلمانان بہ یکبار حملہ کردند / بہ یکبار حملہ بر کفار بردند۔"

۳. مط ن ز ۱/۳۸ و ن ح جلد ۱ ص ۹۲ ن ا "صبحي" ډورن "عبدالرحمٰن آو پرشیا" یعني عبدالرحمٰن عجمي، د مولانا سعید احمد صاحب تالیف "ابوبکر" ص ۲۸۴ "عبدالرحمٰن بن حنبل الجمعي" واقدي (فتوح الشام اردو ترجمه) د اجنادین د جنګ د بیان په آخر کښې (ص ۱۵۵) "عبدالرحمٰن بن عبدالجمعي" د دې نه وړومبے ص ۶۰ عبدالرحمٰن بن حمید الجمعي ګوندي عبدالجمعي د حمید الجمعي یا جمحي په ځائے غلط چاپ شوے دے. زما په اردو ترجمه کښې د حمید نامي متعلق هم شک دے چې د اصل مطابق ده که نه. دا نامه د زیر غور زمانې په عربو کښې نۀ شو وئیلے چې ایښودلے کیدے شوه که نه. ازدي (فتوح الشام اردو ترجمه ص ۱۴۸، ۱۴۹) عبدالرحمٰن بن حنبل. دې نه وړومبے ص ۱۱۹ عبدالرحمٰن بن حنبل جمحي.

۴. دا وضاحت نۀ دے شوے چې دا فرش یا بساط رومیانو سره له کومه راغے. کیدے شي چې څۀ موده وړاندې چې د رومیانو او ایرانیانو جنګونه شوي وو په هغو کښې د رومیانو تر لاسه راغلے وي.

۵. حضرت ابو عبیدهؓ په باب جابیه، حضرت خالدؓ په باب شرقي، حضرت عمرو عاصؓ په باب الفرادیس، حضرت شرحبیلؓ په باب ترما او حضرت قیسؓ په باب فرج وو. شلبي ص ۲۷۰ او "عمرو بن العاص" د ډاکټر حسن ابراهیم حسن اردو ترجمه ص ۶۹

۶ ن ا او ن ب مرج الصفرئ. ډورن ص ۳۲ مرج الاصفر. دواړه صورته صحیح نۀ دي. صحیح نوم "مرج الصفر" دے چې د دمشق نه شل میله سهیل لوري ته یو میدان دے.

۷. یرموک د یو سیند نوم دے چې د حوران له لوا ړګي راوځي او د ګیلیلي او بتل په سهیل کښې د څو میلو په مزل اردن سیند کښې ورګډ او بیا په دغه حال دواړه په مړۀ دریاب، بحر المیت کښې ورېهیوزي. د دواړو سیندونو د ګډون ځائے نه تقریباً دیرش میله بره یرموک د نیمې دائرې په شیر یو چورلک خوري او په ژوره کښې یو لوے میدان جوړوي چې د رے

لوریـه پـه غـرونو کښې ګير دے او د سينه په غاړه پکښې کندې او کرنګونه دي. د يرموک لوے خونړے جنګ هـم پـه دغـه ميـدان کښـې چې پخوا به ئې ورته واقوصه وئيل او اوس ياقوصه بلل شي شوے وۀ.

د اجنـادين د جـنګ پـه باره کښې په مؤرخانو کښې ډير اختلاف دے. څوک ئې د جنګ يـرمـوک نه اګاهو او څوک ئې ترې وروستو ګڼي. دغسې د يرموک جنګ هم څنې مؤرخـان د حضرت صديق اکبرؓ په مبارک عهد کښې په ۱۳ هجري کښې او څنې نور ئې په عهـد فـاروقـيؓ کښـې په ۱۵ هجري کښې يادوي. ازدي (فتوح الشام اردو ترجمه ص ۲۵۴، ۲۵۵) او واقـدي (فـتـوح الشـام اردو تـرجـمـه) د جنګ يرموک واقعه په عهد فاروقيؓ کښې بيانوي. او ابن خلدون ئې په عهد صديقيؓ کښې. (اردو ترجمه جلد ۳ ص ۲۹۵ ـ ۲۹۷)

سـر وليـم ميـور د واقـوصـې يـا يـرمـوک جنګ پـه ۱۳ هجري ستمبر ۶۳۴ء کښې بيـانـوي (تـاريـخ خـلافت ص ۶۹ ـ ۷۷) او حتي د دغه جنګ ورځ ۲۰ اګست ۶۳۶ء (۱۵ هـجري) ښئيلے ده (تاريخ عرب ص ۱۵۲ تاريخ شام ص ۴۱۵، ۴۱۶) سيد امير علي مرحوم ئـې ورځ ۳۰ اګسـت ۶۳۴ء (۱۳ هـجـري) يـاده کـړې ده. (د "شرقينو مختصر تاريخ" ۳۷) مولانا شبلي مرحوم د واقعې تاريخ، مياشت او کال ۵ رجب ۱۵ هجري مطابق ۶۳۶ء بيانوي. (الـفـاروق ص ۸۴ ـــ ۹۴) مـحـمـد حسـين هيـکل ئې واقعات د عهد صديقيؓ په اواخر کښې بيـانـوي. (ابـوبـکر اردو ترجمه ص ۱۱۷ ـ ۱۲۱) فلر (جلد ۱ ص ۳۳۲) ۲۰ اګست ۶۳۶ء (۱۵ هجري)

د دغـو اختـلافاتو له قبله شبلي د شام د فتوحاتو د بيان په پايې کښې "د واقعاتو ترتيب او د هـغوي د وقوع زمانه" د عنوان لاندې يو مستقل باب قائم کړے او په دې لړ کښې ئې ډير مـفـصـل بـحث کړے دے. او د مختلفو ماخذونو نه ئې په دې لړ کښې اقتباسات کړي او پرې ئـې بحث کړے دے. په دغو کښې د بلاذري اقتباس د غور قابل دے. هغه وائي چې "د بصرې د فتـحې نـه پـس پـه ۱۳ هجري کښې د اجنادين جنګ او له پسه ئې د واقوصې جنګ وشو چې پـه دوران کښـې ئې د حضرت صديق اکبرؓ د وصال خبر راغلے وۀ. او له هغه پسه په ذي القـعـدې ۱۳ هـجري فحل او محرم ۱۴ هجري کښې د مرج الصفر جنګ وشو. رجب ۱۴ هـجري کښې دمشق او ورپسـې حمص فتح شو او په رجب ۱۴ هجري يا ۱۵ هجري کښې د يـرموک جنګ وشو. (شبلي ص ۲۸۲) د بلاذري په بيان تبصره کونکے شبلي ليکي چې ما داسـې کتـاب نـۀ دے ليـدلے چې واقوصه يا (ياقوصه) او يرموک پکښې په حيثيت د دوؤ بيلو بيلو ځايونو پيش کړلي شوي وي. له ټولو کتابونو هم دا معلوميږي چې ياقوصه هم د يرموک

د سینـد د غـاړې نـامه ده. او نهٔ کوم مؤرخ دا وئیلي دي چې يرموک په غاړه دوه خلې جنګ شـوے دے. البتـه د اوسنی زمانې ځنې مؤرخین دا وائي چې د يرموک د سیند نه علاوه په دغه نـامـه یـو ځـائـے هم شته او کهٔ دا صحیح وي نو کیدے شي چې دواړه ځایه جنګونه شوي وي. (شلبي ص ۲۸۴) بیا د ابن اسحٰق په سند د بلاذرې، یعقوبي او طبري دا قول هم نقل کوي چې د دمشق د جنګ نه وروميے په جمادي الاول یا جمادي الثاني ۱۳ هجري کښې د اجنادین او په ۱۵ هجري کښې د يرموک جنګ شوے وهٔ. (ص ۲۸۴) دې نه پس د طبري د نقل کړې یوهٔ بل روایت ذکر کوي چې له رویه ئې د يرموک جنګ په ۱۳ هجري او د اجنادین جنګ په ۱۵ هـجري کښې شوے وهٔ. (ص ۲۸۴) او خپله رائ داسې ښکاره کوي. "له هغو اشعارو چې قعقـاع بـن عـمرو د اسلامي فتوحاتو په حقله وئیلي دي هم دا معلومیږي چې د يرموک جنګ د دمشـق د فتـحې نه وروميے شوے وهٔ. قعقاع وائي "مونږ بصرئ ته ورسیدو د بصرئ عـالـم بـې فکره ناست وهٔ هغوي په مونږ ځخلي وغورزولے خو مونږ ئې ورونه دړې وړې کړل او پسته مونږ د رومیانو لوے لښکر ته مخامخ شو.

له دې اشعارو دا بریښي چې له عراقه راتلونکي فوځ وروميے بصرئ فتح کړه او بیا ئې يرموک کښې رومیان مات کړل. (۲۸۶)

ابـن برهان الدین لیکي چې "حضرت صدیق اکبرؓ هغه وخت وفات شوي وو چې کوم وخت مسلمانانو رومیانو سره د جنګ تیاری کولے." (۲۸۷)

د دغـو وجـوهـاتو په بنا مونږ داسې پوهیږو چې د يرموک جنګ د دمشق د فتحې نه وروميے او د اجنـادیـن جنـګ د دمشـق لـه فتحې وروستو شوے دے. دا هم ممکنه ده چې د اجنادین په مقام دوه جنګونه شوي وي یو د يرموک له جنګه وروميے او دویم ترې وروستو په ۱۵ هجری کښې. (ص ۲۸۸)

شلبي د يرموک جنګ په عهد صدیقيؓ کښې بیانوي سره د دې چې واقع کیدل ئې د حضـرت عـمـر فـاروقؓ پـه عهـد خـلافت کښې مني. خو ورسره د مسلمانانو د تیاری شروع کیدل ئې د حضرت ابوبکر صدیقؓ په عهد خلافت کښې ګڼي. هر کله چې د جنګ په دوران کښـې د حـضرت صدیق اکبرؓ د وصال خبر مسلمانانو ته رارسیدو نو ظاهره ده چې د آنجناب وصـال بـه لـه جـنګه وروميے شوے وهٔ. او حضرت عمر فاروقؓ به په خلافت فائز شوي وو. په هـر کیف کهٔ دغه څهٔ ومنلے شي نو د يرموک جنګ په ۱۳ هجری کښې شوے وهٔ او د شلبي د بحث هم دغه نتیجه ده. خو د يرموک د جنګ د حضرت عمرفاروقؓ په عهد کښې د کیدو پـه بـاب کښـې د شهـادت د نوعیت د نظر د وړاندې. دا چې د يرموک جنګ په ۱۵ هجری

کښې شوې وه. شلبي لکه چې مو ولیدل دا هم وائي چې کهٔ چرې د ننني زماني د څنو مؤرخانو وینا سره سم دا ومنلې شي چې یرموک د ځائې نوم هم دې نو ممکنه ده چې په دغې نامه دوه جنګونه شوي وي. یو په یاقوصه یا واقوصه کښې د یرموک سیند په غاړه او بل د یرموک نومې ځائې خواؤشا کښې او دا چې دا هم کیدې شي چې په اجنادین کښې هم دوه جنګونه شوي وي.

تر څو چې د یرموک نومې ځائې څخه د جنګ کیدو تعلق دې نو لکه چې د یرموک د جنګ (یا جنګونو) په حقله د شهادت نه ښکاري یا د شوي ځائې څخه د جنګ کیدو د فرض کولو څهٔ جواز نهٔ شي لیدې. یرموک سیند او واقوصه د شام او اردن ترمینځ واقع دي، اجنادین او یرموک نومې ځایونه فلسطین کښې دي. د یرموک د جنګ په حقله چې څومره شهادت په مختلفو ماخذونو کښې موجود دې سیند او واقوصې سره تړون لري. بله دا چې موجوده یرموک نومې ځائې چې پوره نوم ئې خربت یرموک دې هم د زړې زمانې جرموث (یا یرموث) دې چې په زړه عهدنامه کښې ئې څو ځایه ذکر راغلې دې. (یوشع ۱۰ :۳،۵،۲۳ ایضاً ۱۲ ۱۱ ایضاً ۱۵ : ۳۵ نخمیاه ۱۱ ۲۹) دغه ځائې له بیت المقدسه لویدیز سهیل لوري ته تقریباً شپاړس رومي میلونه او له اجنادینه قطب څخو خاتیز لوري ته اتهٔ میله لرې پروت دې. (وګورئ د بائبل ویسټ منسټر ډکشنري) مونږ څخه د دغې خبرې څهٔ سند نشته چې د بحث لاندې زمانه کښې ۱۴ هجري/ ۶۳۴ء یا ۱۵ هجري/ ۶۳۶ء اوسنې خربت یرموک پرته له جرموثه یا یرموثه د یرموک په نامه هم بللې کیدو کهٔ نهٔ کیدو نو د یرموک کوم جنګ چې د اوومې صدی عیسوي د څلورمې عشرې په مینځ کښې شوې وهٔ. وقوع ئې خربت یرموک سره څهٔ رنګه فرض کیدې شي. د جرموث یا یرموث لفظي معنیٰ لوړه، وچت ځائې ده. او نور هم معني لفظونه ئې ریمیث (یوشع ۱۹ ۲۱) او ریموث (تاریخ ۶ :۷۳) هم په زړه عهدنامه کښې راځي. د یرموک سیند نه سهیل لوري ته د اردن یوه ضلع چې ګلید نومیږي په نهمې او اتمې صدی قبل مسیح کښې د دمشق او اسرائیل د بادشاهتونو پرې جګړې شوې وې. (د تهوئنبي او مائنزر تاریخي اټلس او ګزنټیر ص ۳۰ او د ګلب "دي ګریټ ایریب کانکویسټ" ۱۶، ۱۹، ۲۱، ۲۲ نقشه) په دغه ضلع کښې رمثا (ریموث، ګلید) یو ځائې هم نشته. (د یاد شوي اټلس ۱۷، او د کتاب ۱۵، ۱۷ او ۲۳ نقشه) او د بني اسرائیل بادشاه احاب (لکه چې ګلب په پینځلسمه نقشه لیکلي شوي نوټ کښې وائي) دلته د شام بادشاه سره په جنګ کښې وژلې شوې وهٔ. د زړې عهدنامې د دور نور ډیر جنګونه هم دلته شوي وو لکه چې نقشه ئې ښیي د واقوصې مغربي خلهٔ د دې ځائې نه په کښته پرته ده.

خو دغه ځائے چې له واقوصې سهيل لويديز ته څخو لرې پروت دے چا د يرموک د مشهور جنګ (يا جنګونو) منظر نۀ دے ښئيلے او ګڼلے. په هرحال چې تر څو د زړو خصوصاً د اوومې صدی عيسوي تاريخي او جغرافيائي آثارو تعلق دے مونږ نۀ شو وئيلے چې بې د يرموک له سينده ئې کومې ابادی يا ځائے ته هم يرموک وئيل. او بيا د يرموک د جنګ په لړ کښې مونږ د سيند له غاړې دې دپاره هم لرې نۀ شو تللے چې ورسره واقوصه برابر ياده شوې ده.

د يرموک د جنګ د زمانې په باب د مؤرخانو په اختلافاتو مولانا سعيد احمد صاحب بحث کونکے ليکي: "د خلافت صديقيؓ په زمانه کښې چې په شام کښې کوم فتوحات شوي وو د هغو په حقله ډېر اختلافات دي تر دې چې په دې باب هم اختلاف دے چې د يرموک جنګ په خلافت صديقيؓ کښې شوے وۀ کۀ په خلافت فاروقيؓ کښې. طبري او ابن کثير د يرموک جنګ د اجنادين له جنګه وروستے ګڼي خو د ازدي، واقدي او بلازري په نزد چې په خلافت صديقيؓ کښې په شام کښې له ټولو لوے جنګ شوے وۀ هغه د اجنادين جنګ وۀ. (شام فلسطين او اردن وغيره دغه وخت په مجموعي حيثيت هم يو جنګي محاذ شام ګڼلے شوے وۀ او په دغو زمکو د شوؤ جنګونو په حقله کتابونه هم د فتوح الشام په نامه ليکلي شوي دي) او د يرموک جنګ په ۱۵ هجری کښې واقع شوے وۀ.

"زمونږ په نزد غالباً داسې وشول چې د حضرت خالدؓ له عراقه د روانيدو نه اګاهو قيصر روم دا واقوصې په مقام چې يرموک سره پيوست دے خپل فوځونه جمع کړي وو چې دلته يو فيصله کونکے جنګ وشي چې د شام د قسمت هم ورسره فيصله وشي. اسلامي او رومي لښکرې سره دوه مياشتې يو تر بله مخامخ پرتې وې خو د معمولي ټس ټوس نه زياتې څه نور سم جنګ ونۀ شو. حضرت ابوبکرؓ د صورت حال له دغه جمود ناخوښه شول څکه چې د مسلمانانو دپاره ئې د خطرې شکل اختيارولے شو نو حضرت خالدؓ ته ئې امر وفرمائيلو چې د عراق محاذ مثنیٰ ته وسپاري او پخپله شام ته لاړ شي. هورې د حکم په تعميل کښې معطلتيا نۀ وه. په لاره څو ځايه د جګړو نه پس حضرت خالدؓ په کاميابی د سهيل خاتيز له لوريه د شام په حدودو کښې داخل شول. (د قراقر نه په صحرائے حماد کښې جناب سيف الله له سهيله د قطب په لوري وو او چې د شام حدودو ته ورسيدل نو له خاتيز لوري لويديز وته وګرځيدل او لکه چې تاسو اګاهو ولوستل ناڅاپه د دمشق په شمال مشرق کښې ښکاره شول) دلته هغوي محسوس کړل چې له فوځي نقطۀ نظره مناسب نۀ دي چې واقوصه د جنګ ميدان جوړ کړل شي... نو حضرت خالدؓ د واقوصې په ځائے دمشق ته مخه کړه. هر کله چې

اسلامي فوځونه چې تر اوسه د روميانو لاره نيولې په واقوصه کښې پراته وو له هغه ځايه وخوزيدل نو روميانو په اجنادين کښې ديرې ولګولې چې حضرت خالدؓ خبر شول نو دمشق ئې پريښود او اجنادين ته راغلل. (صديق اکبرؓ ص ۲۸۵، ۲۸۶)

د مولانا صاحب موصوف له بيانه ښکاره ده چې د يرموک لوې جنګ د حضرت صديق اکبرؓ په عهد خلافت کښې نه وۀ شوې او د هغوي د مبارک عهد په شام کښې لوې جنګ د اجنادين جنګ وۀ.

ګلب چې لکه سره د تاريخي آثارو د خپل فوځي علم او تجربې په بنا واقعاتو ته په نوي نظر کتلي دي د هغۀ له رويه هم چې حضرت خالدؓ په شام کښې د اسلامي فوځونو سره يو ځائے شول نو څۀ موده راسې په واقوصه کښې رومي او اسلامي فوځونه يو بل ته مخامخ پراتۀ وو او خو اقدامات ساړۀ وو او څۀ خاص جنګ جګړه نۀ وه شوې. چې حضرت خالدؓ راورسيدل نو لکه چې ګلب ليکي "خالدؓ په هسې کښيناستو او په يرموک کښې د رومي پوزيشن په ناکه بندی کولو قناعت کونکے سړے نۀ وۀ. او اقدامات زر ګړندي او تاو دۀ شول" لکه چې ګلب ليکي "وړومبے حضرت خالدؓ بصرئ په اطاعت مجبوره کړه په دې النا کښې قيصر چې دا وخت په حمص کښې وۀ. او حضرت عمرو بن عاصؓ د خپله لښکره سره د فلسطين په جنوب کښې وو قيصر د قطب له لورې يو عظيم فوځ د حضرت عمرو بن عاصؓ خلاف راوليږلو. مقصد ئې دا وۀ چې يو خو د هغوي تړون نورو اسلامي فوځونو سره پريکړې او په داسې وخت چې نور اسلامي فوځونه د يرموک په محاذ مصروف وو، حضرت عمروؓ بن عاص له شکست ورکړي او بله دا چې په دې ذريعه عقبه ونيسي او د مکې او مدينې د مسلمانانو مواصلات قطع کړي او د مسلمانانو فوځونه له يرموک په واپس کيدو مجبور شي خو دغه شان چې د حضرت عمرو بن عاصؓ امداد له را ونۀ رسي. د حضرت عمروؓ د دې خطرناک حالت نه چې پکښې د ټولو اسلامي فوځونو دپاره خطره وه د بچ کيدلو دپاره د ډيرې تيزی او قابليت ضرورت وۀ. حضرت خالدؓ د يرموک محاذ پريښودلو او سره د هورې مصروفو لښکرو د حضرت عمروؓ د امداد دپاره ئې د رسيدو اراده وکړه او بيا په يوې غيرې متوقعې لاره. د موآب له لورې په فلسطين کښې داخل شول او د اجنادين په مقام پس له يوۀ خونړې جنګه ئې د روميانو عظيم فوځ تس نس او تار په تار کړو. [د ګلب د بيان له رويه *د نبي ﷺ د تره ابوجهل زوے عکرمہؓ په دې جنګ کښې وژلے (شهيد) شوے وۀ (ص ۱۴۲) آيا حضرت عکرمہؓ د اجنادين يا د يرموک په جنګ کښې شهيد شوې وو ځان له بحث غوارې خو ابوجهل ته د حضرت سرور کائنات ﷺ انکل تره يا ماما وئيل صريحه غلطي ده. په انګريزی کښې انکل تره او هم ماما*

تـه واثـي خـو گلب لکه چې د ص ۳۷ بالمقابل شجرې نه ښکاري ابوجهل د حضرت رسالت مآب تره کېني په دغې شجره کېنې ئې د جناب عبدالمطلب زوے او د سيدنا حضرت عبدالله ورور ښئيلے دے.]

پـه اجـنـادين کښ د قيصر د يوهٔ ډېر لوے فوځ د تباه کولو او د هغهٔ د مذمومو ارادو د نـاکامولو نه پـس اسلامي فوځونه د روميانو د مقابلې دپاره بيا د يرموک محاذ ته وګرځيدل. د اجـنـادين پـه جـنـگ کـښـې د مسـلـمانانو برې د هغوې حوصلې وچتې کړے او د روميانو ئې غـورزولـے وے. گلب واثي هر څهٔ وجه چې وه جنگ اوس ګرندے شو او د اګست ۶۳۴ء په اواخـر کښې (مطابق ص ۱۵۰ اوائل ستمبر مطابق ص۱۵۵) مسلمانانو غلبه وکړه او روميان ئـې پـه تيښتـه مجبور کړل. د شام د فتحې لار هواره شوه. جنګي اقدامات د حضرت خالد بن الـولـيـد د اعـلـیٰ کمان لاندې وو، له څو ورځو لګيدلے جنگ چې ښهٔ تود شو نو هغه وخت له مـديـنـې قـاصـد د حـضـرت ابـوبـکـر صديقؓ د وفات او د حضرت عمر فاروقؓ د خلافت خبر راورسـولـو. دغـه قـاصد يو خط هم راوړے وهٔ چې پکښې د حضرت خالد د سپه سالاری نه د معـزولـې او د حضرت ابوعبيدهؓ پرې د تقررى حکم وهٔ. هر کله چې دغه وخت جنگ ډېر په زور او شـور وهٔ نـو حـضـرت ابـوعـبـيـدهؓ دغـه حـکـم پټ ودرلـهٔ. عن چې حضرت خالدؓ فتح بيامونده. (ص ۱۳۹، ۱۴۴، ۱۵۰) پسته گلب د شام د مهم نور واقعات چې د کال ۶۳۴ء په پـاتـې څـو ميـاشتـو او پـه کال ۶۳۵ء کښې شوې وو بيانوي چې پکښې د فحل، مرج الصفر، دمشـق، بـعـلبک، حـمـص، حـماه فتوحات خاص طور سره د يادونې وړ دي. (د اتم باب ص ۱۵۵ ــ ۱۶۰) [او حتـې تـاريـخ عرب ص ۱۵۰ تاريخ شام ص ۴۱۴، ۴۱۵) بيا په نهم باب کښې (ص ۱۷۳ ــ ۱۷۹) د يـرمـوک د لـوې او خـونـړي جنگ واقعات بيانوي چې په شلم اګـسـت ۶۳۶ء د مسلمانانو په عظيمه فتح او د ټول رومي فوځ د تباهي او بربادی په صورت ختـم شـوې وو. لـکـه چې گلب واثي په دغه جنگ کښې د روميانو کمانډران تهيوډروس (د عربو مؤرخانو (تدارق) او باآنيز (دعربو مؤرخانو باهان) وو هغه دا هم واثي چې اګر کهٔ عرب مـؤرخان مونږ په شک کښې پريږدي چې د دغه بحران (يعنې د يرموک د جنګ په وخت) سـالاري د چا وه خو مونږ قياس کولے شو چې حضرت ابوعبيدهؓ سرکاري طور سالار وهٔ خو د عسـکـري صـورت حـال د غـعـيـې دپـاره ئې حضرت خالدؓ له ازادانه اختيارات ورکړي وو. (د *حـضـرت خـالـدؓ د معزولـی په اسبابو او نوعيت ئې مونږ د ص ۳۹ په نوټونو کښې بحث کونکي وو دلته په دومـره وينا کفايت کوو چې گلب چې څهٔ ليکلي دي د عربو مؤرخانو له بياناتو واضح دي او په ډيره اسانی تـرې اخـذ کيـدے شـي بلکې د ازدې بيان خو په دې حقله دومره واضح دے چې هلهو د قياس څهٔ ضرورت نهٔ پيـښيـږي هغه ليکي چې جناب امين الامت و حضرت خالدؓ ته د قيادت فرائض وسپارل نو ضحاک بن قيس*

ته ئي امر وفرمائيلو چې د هر لښكر خوا ته دې خپل او اعلان دې كوي چې د خالدؓ بن وليد حكم به منل شي.
او حضرت ضحاكؓ به د هرې جنډې خوا كښې وګرځيدل او ناره به ئي كړه چې ستاسو د سردار ابوعبيدهؓ
حكم دے چې د خالدؓ بن وليد د هر حكم تعميل به كوئ. ص ۲۸۲ ـ ۲۸۵)

د يرموک په دې جنګ كښې د حضرت خالدؓ ټيكټكس Tactics د جنګ په دوران كښې د فوځ او د بيلو بيلو برخو ئي د خوزولو، وړاندې وروستو كولو د تفصيل دپاره دې قاري د ګلب كتاب "دې ګريټ ايريب كانكويسټ" ته رجوع وكړي. حاصل ئي دا دے چې د څۀ مودې د كاميابو اقداماتو نه پس يوه ورځ ۲۰ اګست د اسلامي فوځونو د شا د لورې نه د روميانو مخې ته د سموم د چليدو آثار ښكاره شول او اسلامي فوځ لكه چې د حضرت خالدؓ د قيادت خصوصيت وۀ صف په صف د حملې دپاره تيار شو او لا وړومبے ترې د اسلامي فوځ يوې دستې د رومي فوځ شاته په وادي الرقاد كښې د سيند دپاسه په پل قبضه وكړه او د رومي مواصلاتو خط ئې پريكړ. او هغه وخت چې د شګو او دوړو لړې د روميانو سپاهيانو په مخ پريوتل شروع شوے مسلمانانو حمله وكړه او د يوۀ سخت جنګ نه پس ئي ټول رومي فوځ تباه او برباد كړو. تهيوډورس هم سره د بې شميره رومي،عربو او ارمني سردارانو او سپاهيانو قتل شو څوک چې په ميدان جنګ كښې له مرګه پاتې په تيښته شول اكثر په وادي الرقاد او سيند كښې ډوب شول او څښې چې پورې وتل په بله غاړه ووژل شول. (ګلب ص ۱۷۳ ـ ۱۷۹) حتي تاريخ عرب ص ۱۵۲ تاريخ شام ص ۴۱۵، ۴۱۶ فلر جلد ۱ ص ۳۳۲) فلر دغه جنګ ته فيصله كن وائي. (ايضاً)

نو له دې برنو تفصيلاتو او توضيحاتو ښكاري چې د يرموک جنګ يو ځل په ۶۳۴ء (۱۳ هجري عهد صديقيؓ) او دوباره ۶۳۶ء (۱۵ هجري عهد فاروقيؓ) كښې شوے وۀ. او دغه دويم جنګ د شام د قسمت فيصله د مسلمانانو په حق كښې وكړه.

۸. سره د كم زيات اختلاف د رومي لښكر ګڼه د دريو او دوه نيمو لكو خواؤشا او د اسلامي لښكر شمير د شپږو ديرشو او شپږ څلويښتو او پنځوسو زرو خواؤشا ياد شوي دۀ. (ازدي ص ۲۳۰ ابن خلدون جلد ۳ ص ۲۹۲ ـ ۲۹۷ سره د مترجم د حاشيې شلبي ص ۲۴۸ عقاد ص ۲۸۴ حتي تاريخ عرب ص ۱۵۲ تاريخ شام ص ۴۱۵ او فلر جلد ۱ ص ۳۳۲) د رومي او اسلامي فوځونو ګڼه په ترتيب ۵۰۰۰۰ او ۲۵۰۰۰ يادوي. (زما په مخكښې په تاريخ شام (۱۹۵۱ء) د ۲۵۰۰۰ په ځائے د طباعت د غلطي په وجه ۲۵۰۰ ليكلي شوي دي)

ص ۳۸

پښتو عبارت "لتاسو سره جنګ" فارسي عبارت ن ز ۱/۳۰ ن ح جلد ۱ ص ۹۴ "ګفت

مطلوب من از شما محاربه و مقاتله نیست بلکه توجه است به درگاه حق به آنکه دعا و زاری می نمائند" یعنې د جنګ کولو نه زیات ستاسو د دعا ضرورت دے.

۲. د حضرت خالدؓ د مصلحت له رویه د جناب خلافت مآب حضرت ابوبکر صدیقؓ د وصال خبر مخفي ساتل خو قیاس ته نزدې کیدے شي خو ظاهره ده چې دا نورې خبرې فالتو وي. د ځنو روایاتو له رویه لکه چې تاسو ولوستل پیغام حضرت ابوعبیدهؓ ته رسولے شو.

۳. ن ب "جهاد"

۴. د معتبرو اسنادو له رویه د شهدا (انعم الله علیهم) ګڼه درې زره بیان شوې ده چې پکښې زر صاحبه کرامؓ او په دیو نفوس قدسیه کښې سل بدریان وو. (رضي الله تعالیٰ عنهم اجمعین)

صـ ۳۹

ن ز ۳۲/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۹۸ "وچون در سال پانزدهم از هجرت حضرت خیر البشر علیه الصلوٰة والسلام ابوعبیدهؓ به موجب امر فاروقؓ به محاصرهٔ دمشق پرداخت از درگاه خلافت استمداد سپاه نمود."

۲. د حضرت فاروق اعظمؓ د حضرت خالدؓ د معزولي د امر فرمائیلو په لړ کښې دلته بیان شوے ځنې خبرې مثلاً د مالک بن نویره د قتل په باره کښې خواب طلبي، د حضرت خالدؓ مهلت غوښتل او د هغوي د خور بي بيؓ مشوره ورکول د حضرت خالدؓ مدینې ته تلل او د حضرت خلافت مآب په خدمت بابرکت کښې وسیدل او د حضرت ابوعبیدهؓ په کومک غوښتلو بیا شام ته راتلل قطعاً نامعتبرې دي. هرکله چې د مالک بن نویره د قتل قضیه د خلیفه رسول الله حضرت ابوبکر صدیقؓ په عهد معدلت مهد کښې فیصله شوه او هغو سراپائے صدق و حق د حضرت خالدؓ عذر د معقولیت او موقف و صداقت قرین وګڼلو نو بیا د جناب فاروق اعظمؓ خبره سر دوباره کول له قیاسه ډیر لرې دي. د حضرت خالدؓ د شام له مهمه مدینې منورې ته تلل او دربار خلافت کښې حاضري هم ډیرې وروستو واقع شوې خبرې دي. دا هغه وخت وے چې د شام د مهم جنګونه خلاص وو. په دربار خلافت کښې ئې حاضري د سعادت حاصلولو نه پس بیا شام ته تشریف راوړ. د حضرت خالدؓ د معزولی د واقعې د هغې د وخت او اسباب په حقله بحث دومره تفصیل غواړي چې دلته ئې ګنجائش نشته البته د ټولو خبرو د جاج اخستو نه پس یو طالب علم دې نتیجې ته رسي چې د دې واقعې په بیان او په حقله ئې بحث کښې ډیر رطب و یابس او ظني او قیاسي خبرې هم ګډې شوے دي. د وخت تعین د مؤرخانو د بیانونو د اختلاف د نظر د وراندې هم اسان نهٔ دے. البته دومره خبره واضحه ده چې کهٔ معزولي د حضرت فاروق اعظمؓ د عهد خلافت په شروع کښې هم شوې ده نو هم دا حقیقت ښکاره دے چې اګر کهٔ د شام د اسلامي افواجو د سپه سالار اعظم او د ملک د

حکومت اختیارات له حضرت خالدؓ اخستي او حضرت ابوعبیدهؓ ته سپارلي شوي وو خو پسته ئي هم په اکثرو لویو لویو معرکو کښي به د فوځ کمان د حضرت ابوعبیدهؓ په اجازت او رخصت هم حضرت خالدؓ کولو او په عمومي فوځي نظم و نسق کښي ئي هم عمل او دخل وۀ. او هغو جناب خلافت مآب او عدالت انتساب هیڅ کله دغه طریق کار سره تعرض نۀ وۀ فرمائیلے. په ابتدا کښي د حضرت خالدؓ په ځائے د حضرت ابوعبیدهؓ د اسلامي افواجو د سالار اعظم مقررولو سبب دا وۀ چې دغه عهدې سره ملکي، سیاسي او انتظامي امور متعلق وو او لکه چې د جناب فاروق اعظمؓ رائ عالي وه په مجموعي حیثیت د دغو ټولو امورو د حل او عقد دپاره د حضرت ابوعبیدهؓ شخصیت زیات موزون وۀ او بیا چې په آخره حضرت خالدؓ فارغ شول نو دغه په حقیقت کښي معزولي نه بلکې سبکدوشي وه ځکه چې ټول شام او متعلقات ئي فتح شوي وو او د هغوي د فوځي خدماتو ضرورت پاتې نۀ وۀ. نو دغو خبرو سره د مال غنیمت د ویش حساب کتاب وغیره هیڅ تعلق نۀ وۀ ځکه چې د اخراجاتو په باره کښي د ځواب طلبی په لړ کښي د حضرت خلافت مآبؓ په نزد حضرت خالدؓ له خیانته پاک وو هر څو کۀ ئي ورته لکه چې پکار وه تنبیه او نصیحت فرمائیلے وۀ چې کۀ تا د بیت المال نه او خپل مال نه هم اشعث بن قیس شاعر ته په طور د انعام ورکړے دے نو هم دې بنۀ نۀ دي کړي ځکه چې کۀ دا خیانت نه نو اسراف دے. په دغه واقعه کښ یوه لطیفه نکته ده او هغه دا چې مسلمان د خپل مال هم دغه شان قطعي مالک نۀ دے لکه چې د ژوند او اجتماعیاتو د نورو ضابطو موافق څوک کیدے شي بلکې هغه د مال امین دے ساتنه او لګښت به ئي د خدائے تعالیٰ د اوامرو او نواهیو د نظر د وړاندې کوي او په دې معامله کښي به ئي هم د اسلامي ریاست مشر نګران وي.

خلاصه دا چې دغه بزرګې او پاکې هستئ چې د دغه بحث موضوع دي له هغو خبرو ډیرې بلندې او بالا دي کومې چې په دې لړ کښي هغو ته خصوصاً مغربي مؤرخانو منسوبې کړي دي. لکه د حضرت فاروق اعظمؓ د ذاتي عناد په بنا د حضرت خالدؓ معزولول او یا د دوي د آنجنابؓ په حقله دغه شان سوئے ظن لرل، کۀ اختلافات ئي وو هم نو د بغض او کینې او بدګمانو نه پاک وو. کۀ جناب فاروق اعظمؓ د جناب سیف اللّٰهؓ په څنې کارونو معترض وو نو د ذاتیاتو په وجه نه بلکې د دیانت دارانه اختلاف له قبله او نۀ دغو اختلافاتو هغوي چرې په دې اماده کړي وو چې د جناب سیف اللّٰهؓ د خوبو او صلاحیتونو نه انکار وکړي. بلکې هغو سراپائے عدل و انصاف خو همیشه د هغو اعتراف کولو. کۀ حضرت خالدؓ هر څو په خپله صفایۍ کښي احتجاجاً چرې د مزاج شریف د نزاکت اظهار کړے هم وي نو نۀ دغه شان چې

د خپل امام او امير خاطر عاطر ئې مکدر کړے وي بلکې په اطاعت او فرمان برداری کښې ئې استقامت مونږ دپاره ډېره ډېره غوره نمونه ده. هر کله چې هغه مبارکې نامې چې خليفه رسول الله حضرت صديق اکبرؓ، حضرت خالدؓ، حضرت فاروق اعظمؓ په دې سلسله کښې ليکلے او هغه قيمتي خبرې چې حضرت ابوعبيدهؓ په دغه سلسله کښې کړے وے زمونږ په دې حقله ډيره بنه رهنمائي کوي نو بايد چې دلته نقل کړل شي:

(۱) د حضرت صديق اکبر نامهٔ مبارکه د حضرت خالدؓ په نوم

"زما د خط کتلو سره له عراقه روان شه، هغه خلق چې ستا د راتلو په وخت په عراق کښې وو هم هورې پريږده، خپل هغه طاقتور ملګري چې له يمامې درسره راغلي وو په لاره دې د فوځه سره ملهٔ شوي وو يا له حجازه درسره راغلي وو هغوي د ځان سره بوځه اسباب لږ واخلئ په مخه روان اوسه عن چې تر شامه ورسے، ابوعبيدهؓ بن جراح او د هغهٔ ملګرو مسلمانانو سره ووينه، چې هورې ورسے نو د ټولو سپه سالار به هم تهٔ ئې. والسلام عليک."
(ازدي ص ۱۱۸، ۱۱۹)

(۲) د حضرت صديق اکبر د حضرت ابوعبيدهؓ په نامه خط

"ما په شام کښې د روميانو سره د جنګيدو دپاره خالدؓ بن وليد سپه سالار مقرر کړو، د هغهٔ نافرماني ونهٔ کړے بلکې په هر شان ئې فرمانبردار اوسه. ما خالدؓ په تا امير مقرر کړو سره د دې چې زهٔ پوهيږم چې تهٔ له هغهٔ افضل ئې خو ما فکر وکړو چې د جنګ په معاملو له تا زيات پوه دے. الله دې مونږ ته او تاسو ته د نيکۍ لار وښيي. والسلام عليکم و رحمة الله"
(ازدي ص ۱۳۸، ۱۳۹)

(۳) د حضرت خالدؓ سپه سالار اعظم د حضرت ابوعبيدهؓ مقرب بارګاه رسالت په خدمت کښې مؤدبانه خط

"بسم الله الرحمٰن الرحيم. د ابوعبيدهؓ بن جراح په نامه د خالدؓ بن وليد خط.

سلام عليک، زهٔ ستاسو په مخکښې د الله واحد حمد کوم. زهٔ له الله ځان لره او تاسو لره د ويرې په ورځ د امن او په دې ژوند کښې د حفاظت طلبګار يم. د رسول الله ﷺ د خليفه حکم رالره راغلے دے چې شام ته درروان شم او د فوځونو کمان او انتظام ئې په خپل لاس کښې واخلم. قسم په خدائے چې نهٔ مې سرداري غوښتلې وه او نهٔ مې په دې باب خليفه ته کښل کړي دي په تاسو دې د الله رحمت وي ستاسو حيثيت به هم هغه وي چې کوم دا وخت دے. ستاسو د هيڅ يو حکم نافرماني به نهٔ کيږي نهٔ به ستاسو د رائ مخالفت او نهٔ به بې ستاسو له صلاح څهٔ کار کړهٔ شي. ځکه چې تاسو د مسلمانانو د سردارانو څنې يو يئ. ستاسو

له فضیلته انکار نهٔ شي کیدے. او نهٔ ستاسو له رائ بې نیازي کیدے شي. الله دې په مونږ او هم په تاسو خپل احسان پوره کړي او مونږ او تاسو دې د دوزخ له عذابه وژغوري. والسلام علیک و رحمة الله." (ازدي ص ۱۲۳، ۱۲۴)

(۴) د حضرت فاروق اعظمؓ د قاصد په مخکښې د حضرت خالدؓ په حقله د جناب امین الامة بیان

"خالدؓ بهترین سپه سالار دے د مسلمانانو لوے او رښتونے نیک خواه او ډیرې ښې شانه مئین دے. د هغوي ډیر ډیر خیر غواړي او دښمنانو سره ئې ډیره زیاته سختي کوي. الله دې د مسلمانانو له طرفه هغهٔ له بهترین ثواب ورکړي." (ازدي ص ۱۵۶)

(۵) د حضرت فاروق اعظمؓ نامه مبارکه د حضرت ابو عبیدهؓ او د حضرت معاذ بن جبلؓ په نامه

"د الله د بنده عمر امیر المؤمنین خط د ابو عبیدهؓ بن جراح او معاذ بن جبلؓ په نامه. زهٔ د الله واحد حمد و ثنا کولو نه پس تاسو ته د الله نه د ویریدو وصیت کوم. چې هم په تقویٰ کښې ستاسو د پروردګار خوښي ده ستاسو د ځانونو ښیګړه او د هوښیارانو دپاره د مصیبت په وخت کښې بهتري.... او تاسو لیکلي دي چې اوس د دي امت معامله ماته وسپارلې شوه.... او تاسو زهٔ د راتلونکي ورځې نه ویرولے یم.... د دنیا حکومت او سلطنت هیڅ دي خکه چې هر څیز ئې ورکیدونکے دے... مونږ یو ترېله وروڼه یو کهٔ له دوؤ یو وړور هر چرې لاړ شي یا په هغهٔ بل سردار مقرر شي نو په دې د هغهٔ نهٔ دنیا او نهٔ دین زیانیږي.... خالدؓ په داسې حال کښې معزول کړے شوے دے چې مسلمانان ئې ستایونکي او ډیرې مئین وو هغه د مسلمانانو افسر مقرر شوے وهٔ او د افسرئ فرائض ئې په ډیر ښهٔ شان سر ته ورسول. د مسلمانانو دپاره د هغهٔ مرستې، مښود او زیار ډیر لوے او سودمن دي. (ازدي ص ۱۵۸ ـ ۱۶۰)

۳. پارسنګونه، اندرپایې.

ص ۴۰

اصل ن ا "ابوسفیان بن یزید" چې غلط دے.

د یرموک د میدان سهیل لویدیز لوري او د اردن سیند لویدیز ته په څهٔ فاصله.

ن ح جلد ا ص ۱۰۰ "نودر" (حاشیه "نوذر") او "روستش". توذر پادري او شنس سره د حضرت خالدؓ او حضرت ابوعبیدهؓ مقابله د دمشق لویدیز ته په مرج الروم کښې کیدونکې وه. جناب امین الامة د شنس او جناب سیف اللهؓ د توذر مقابل وهٔ. خو سحر ښکاره

شو چې شنس خو سره د خپله لښکره شته دے خو توذر غائب شوے دے. حضرت خالدؓ ته خبر راورسيد چې توذر دمشق لورې ته روان دے. چې هورې ناڅاپه په حضرت يزيد بن ابوسفيان حمله وکړي. حضرت خالدؓ وروپسې روان شول او لا هيله د توذر او حضرت يزيدؓ بن ابوسفيان مقابله شروع شوې وه چې په توذر ئې د ورروستو نه حمله وکړه. توذر د حضرت خالدؓ له لاسه ووژلے شو او تقريباً ټول فوځ ئې ډوب شو. پس له دې حضرت خالدؓ د حضرت ابوعبيدهؓ په خدمت کښې حاضر شول. (شبلي ص ۲۷۵، ۲۷۶)

۴. د حضرت عکرمهؓ بن ابوجهل شهادت اکثرو مؤرخينو هم په جنګ يرموک کښې بيان کړے دے او هر کله چې تاسو ولوستل هغوې يو ځل د حضرت عمر فاروقؓ په عهد خلافت کښې د قريشو سردارانو سره د حضرت فاروق اعظمؓ د ملاقات دپاره حاضر شوې وو حضرت بلالؓ هم ورسره دې دپاره تلې وو نو د حضرت عکرمهؓ او د هغوې د زوې حضرت عمرو (انعم الله عليهما) د شهادت واقعه به د يرموک په دويم جنګ کښې شوې وې.

۵. پښتو نسخې "يوم الاعما" تصحيح مط ن ز و ن ح.

صـ ۴۱

دغه نامه په پښتو نسخو او ن ز کښې په بيلو بيلو ځايونو چرته جهنجائي، چرته جهنجا او جهنجار او ډورن ص ۳۶ کښې جهجاره ليکلې ده او ن ج کښې جهجاه. ما د نوم په املا کښې د ن ح نه علاوه چې د اسد الغابه تتبع ئې کړې ده د اصابه في تميز الصحابه جلد ۱ ص ۳۶۵ (جهجاه بن سعيد و قيل ابن قيس و قيل ابن مسعود الغفاري) او کتاب الاسيعاب في معرفة الاصحاب جلد ۱ ص ۹۷ (جهجاء الغفاري المدني و هو جهجاه بن مسعود يقال ابن سعيد بن سعد بن حرام بن غفار الخ) پيروي هم وکړه. د ن ح جلد ۱ ص ۱۰۲ حاشيه ۲ کښې د اسدالغابه جلد اول ص ۳۰۹ په بنا شجره داسې ورکړې شوې ده. جهجاه بن قيس و قيل بن سعيد بن سعد بن حرام بن غفار الغفاري. نو دغه درې واړه عظيم ماخذونه زموږ د املا مرسته کوي.

۲. ن ا و ن ب "قبزين" قنسرين شام کښې يو ښار دے د حمص نه قطب او انطاکيه نه سهيل خاتيز ته.

صـ ۴۲

لکه چې اکثرو تاريخونو کښې ليکلې دي "کۀ له بيت المال نه دې ورکړے وي نو خيانت او کۀ له خپله ماله دې ورکړے وي نو اسراف دے." دا انعام حضرت خالدؓ له خپله ماله ورکړے وۀ. وګورئ ص ۳۹ نوټ ۲.

بې سنده خبره ده دا هم د هغه قسم خرافاتو او لغوياتو څنې يوه خبره ده چې معاذ الله د حضرت فاروق اعظمؓ او حضرت خالدؓ تر مينځه د کينې او بُغض په باب مشهورې دي.

۳. هسې خو لکه چې ټول مؤرخين متفق دي حضرت خالدؓ د جناب فاروق اعظمؓ د شهادت نه وړومبې وفات شوي وو او د خليفه ثالث حضرت عثمان غنيؓ په عهد معدلت مهد کښې د حضرت خالدؓ د فتوحاتو دا ذکر چې شوې دې محض غلط دې ليکن بهتره به وي چې د هغو ټولو اسنادو چې شلبي په دې باب راوړي دي مختصراً ذکر وکړل شي. (۱) طبري د واقدي په حواله ۲۱ هجري په حمص کښې، (ب) ابن عساکر حمص کښې ۲۱ هجري (ج) د ابن اثير اسد الغابه ۲۱ هجري په حمص او د څنو په نزد په مدينه کښې (د) د حافظ ابن حجر تهذيب التهذيب ۲۱ هجري د څنو په نزد په حمص د څنو په نزد مدينه کښې، څنې خلق ئې وفات په ۲۲ هجري کښې يادوي. (ه) د حافظ موصوف اصابه حمص ۲۱ هجري د څنو په نزد په مدينه کښې خو د اکثرو په نزد په حمص کښې (و) علامه عيني د بخاري په شرح کښې وائي چې ۲۱ هجري کښې په حمص کښې وفات شوي وو خو وړومبی خبره زياته معتبره ده. (شلبي ص ۲۲۴ - ۲۲۶) علاوه له ديو اسنادو اُستيعاب هم د توجه او ذکر وړ دې چې له رويه ئې په اختلاف د روايت حضرت خالدؓ په حمص کښې او يا په مدينه منوره کښې په ۲۱ يا ۲۲ هجری کښې په عهد فاروقيؓ کښې وفات شوي وو. "و توفیٰ خالد ابن الوليد بحمص و قيل بل توفیٰ بالمدينة سنة احدیٰ و عشرين واثنين و عشرين فی خلافة عمر بن الخطاب." (جزو الاول ص ۱۵۴)

د خالدؓ بن الوليد د نامې يو بل صاحب وو چې له انصارو وو هغوي د حضرت علي المرتضیٰ کرم الله وجهه تر عهد معدلت پورې حيات او د صفين په جنگ کښې ورسره شامل وو. (شهد صفين مع علي رضي الله عنه).

نو کۀ سيف الله حضرت خالدؓ بن الوليد قريشي مخزومي په ۲۱ يا په ۲۲ هجری کښې وفات شوي وي نو دا به د جناب فاروق اعظمؓ د خلافت سعادت آيت زمانه وه. هغه مبارک رضي الله عنه په ۲۶ ذوالحجه ۲۳ هجري چې د سحر د مانځۀ ذ امامت دپاره په جماعت کښې ودريدل نو ملعون ابو لولو فيروز زخمي کړل او په اختلاف د رواياتو څو ورځې پس هم په دغه کال کښې يا په محرم ۲۴ هجری کښې ئې د شهادت جام نوش کړو. انعم الله عليه.

ص ۴۳

د دغسې شجرې نامې په مختلفو نسخو کښې په لږ ډير اختلاف بل بل شان ليکلي شوي

دي. ما د ن ح تتبع وکړه په قوسین کښې راغلي نامې زما د وړاندې په پښتو نسخو کښې نشته.

صـ ۴۴

د قیس نومې کوم سړي د پښتونخوا له کومه ځایه د حضرت سرور کائنات ﷺ بابرکته خدمت کښې د حاضریدو او ورسره د نورو خبرو بیان لکه چې شوې دې د لاندینو سوالونو په رڼا کښې خیرل کیدو وته اړ دې:

(الف) آیا د آثار نبوي ﷺ یا له کومو نورو معتبرو اسنادو د پښتونخوا د قیس نومې چا سړي د جناب سرور کائنات ﷺ په بابرکته خدمت کښې حاضریدل، اسلام راوړل، او بیا د هغه سړي په تبلیغ ئې د قام اسلام راوړل ثابتیږي یا قیاس ته نژدې دي؟

(ب) آیا دا سړې او قام ئې په ختچه اسرائیلیان وو؟

(ج) آیا جناب رسالت مآب ﷺ د دغه سړي نوم عبدالرشید ایښې وۀ څکه چې (لکه بیان شوي دي "قیس اسمیست عبرانی وما از اهل عربیم از روئے کرم قیس را عبدالرشید نام نهاد" قیس عبراني نوم وۀ او حضرت سرور کونین ﷺ او قام ئې عرب وو؟

(د) آیا قیس د حضور پُرنور ﷺ په خدمت کښې د مکې معظمې د فتحې په موقع په جهاد کښې حصه اخستې وه؟

(ه) آیا آنحضرت ﷺ قیس ته د پټان (بطان) او ملک خطابونه د هغو خدماتو او تردداتو له مخه چې بیان شول لطفاً د قدر افزایی دپاره ورکړي وو او له دې قبله پښتنو ته پټان وائي او مشران ئې ملکان بلل شي.

(۱) ترڅو چې د وړومبي سوال (ا) تعلق دې خواجه نعمت الله په تاریخ خانجهاني کښې وائي چــــې "اگر چه این خبر به احادیث و روایات ثابت نه شده و در کتب احادیث نیست اما در بعضی نسخ تواریخ مثل گزیده و مستوفی و مجمع الانساب و اصناف المخلوقات خواجه نصیرالدین طوسی و بعضی سیر مرقوم است که در سال نهم بعد از غزوۀ تبوک که وفود اعراب به ملازمت آن سرور آمدند قیس نیز بدلالت خالد به خدمت پیغمبر رسید چنانچه مسطور گشت." یعني اګر کۀ له احادیثو او روایاتو ثابت نۀ دي او د حدیث په کتابونو کښې نشته خو په بعضو نسخو لکه تاریخ گزیده او مستوفي او مجمع الانساب او د خواجه نصیر الدین طوسي اصناف المخلوقات او د سیر په څنو کتابونو کښلي دي چې په نهم کال د غزوۀ تبوک نه پس چې د اعرابو وفدونه د آنحضرت ﷺ په خدمت کښې راتلل نو قیس هم د خالدؓ په ترغیب د پیغمبر ﷺ په خدمت کښې حاضر شوې وۀ لکه چې ولیکل شول."

نو اګر کۀ لکه چې خواجه نعمت الله هم اقرار کړې دې د آثار نبوي ﷺ یعني د

احادیثو په معتبرو مجموعو کښې خو د دې قسم هیڅ روایت نشته او هغه کتابونه چې خواجه نعمت الله د خپل بیان په تائید کښې یادکړي دي هم د عهد نبوي ﷺ په حقله د سند درجه نهٔ لري. البته د دوؤ نورو سرغونو او ډیرو معتبرو ذریعو یعنې د ابن اثیر او اسد الغابه او د حافظ ابن حجر عسقلاني رحمة الله علیه د اصابه نه د دغه روایت تائید کیږي. ابن اثیر په اسد الغابه څلورم جلد ص ۲۳۹ (په تسلسل د قیس د نامې) کښې لیکي: "قیس بن یزید روىٰ عنه اولاده انه وفد علىٰ رسول الله ﷺ فاسلم و ولاه علىٰ قومه و مسح راسه فدعا قومه الى الاسلام على جبل تسمه سلمان فاسلموا و لم یشب موضع ید رسول الله ﷺ الىٰ ان مات اخرجه ابو موسىٰ" یعنې قیس بن یزید د هغهٔ نه ئې اولاد روایت کړے دے چې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر او مسلمان شو او آنحضرت ﷺ هغه د خپل (یعنې د هغهٔ) د قام والي کړو او په سر ئې ورله (له شفقته) لاس مبارک وګرځولو هغهٔ خپل قام په یوهٔ غرهٔ چې نامه ئې سلمان ده راوبللو (هغوي) مسلمانان شول. او د قیس تر مرګه ئې (د سر) هغه ځائے چې رسول الله ﷺ پرې لاس مبارک ایښے وهٔ نهٔ وهٔ سپین شوے. دا بیان ابو موسىٰ راوړ. او حافظ صاحب په اصابه جلد ۵ ص ۲۶۸ کښې لیکي: "قیس بن یزید، ذکره ابواسحٰق المستملی فی طبقات اهل بلخ واورد من طریق العباس ابن زنباع عن ابیه عن الضحاك عن ابیه عن جده فاتك بن قیس بن ابیه قیس بن یزید قال وفدت علی النبی ﷺ فی واد السبع فاسلمت و بایعت و کتب لی کتاباً واعطانی عصا فجاء الىٰ قومه فدعاهم الى الاسلام فاجتمعوا الیه علىٰ جبل یقال له سلمان." یعنې قیس بن یزید. د دهٔ ذکر ابواسحٰق مستملي د بلخ د تپو په خلقو کښې کړے دے په ذریعه د عباس ابن زنباع او هغه له خپل پلاره... او فاتک له خپله پلاره قیس زوي د یزید چې وئیل ئې چې زهٔ د نبي ﷺ په خدمت کښې په وادي سبع کښې حاضر او مسلمان شوم او بیعت مې وکړو ما لره ئې فرمان ولیکلو او عصا ئې راوبخښله (نو) خپل قام ته راوجاروت او د اسلام دعوت ئې ورکړو. او (قام ئې) ورته په یوهٔ غرهٔ چې سلمان بلل شي راټول شو.

ابن اثیر ډیر لوے لیکوال دے او په ډیرو لویو مؤرخانو کښې ئې شمیر کیږي. د اسدالغابه نه علاوه د دهٔ په نورو آثارو کښې تاریخ ابن اثیر کامل (اتهٔ جلده) ډیر مشهور او مقبول دے. د حافظ صاحب ذات ګرامي خو د اسلامیاتو یو مبتدي دپاره هم تعارف ته اړ نهٔ دے. په علم دین خصوصاً آثار نبوي ﷺ کښې د ډیرې وچتې پایې څښتن دي. د بخاري شریف شرحه چې دوي د فتح الباري په نامه لیکلې ده ډیره معتبره مقبوله او مشهوره ده. د اصابه او فتح الباري نه علاوه ئې نور هم ډیر کتابونه کښلي دي. دلته دا یاد ساتل پکار دي چې

د حضرت رسول الثقلین ﷺ سیرت مبارک او د بابرکت عهد تاریخ د علمائے دین د تحقیق ضروري موضوع دے. په پورتنو بیاناتو کښې کۀ هر څو د قیس د پلار او د اولاد نامې د پښتنو په شجرو او روایاتو وغیره کښې یادیدونکو نامو نۀ بیلې دي دا خبره ښکاره ده چې د حضرت سرور کائنات ﷺ په مبارکه زمانه کښې د بلخ له طبقاتو په یوه تپه کښې د کوه سلیمان خواؤشاه قیس نومے یو سړے سره د خپله قامه وسیدو هغۀ د آنحضرت ﷺ په خدمت بابرکت کښې د حاضریدو نه پس اسلام قبلولو، بیعت کولو او بیا د هغۀ قام د هغۀ په تبلیغ د مسلمانیدو سعادت حاصل کړے وۀ. زاړۀ مؤرخین پښتونخوا هم د بلخ له طبقاتو شمیري او بولي ئې.

(۲) تر څو چې د دویم سوال (ب) تعلق دے نو قیس او سلیمان دواړه یقیناً اسرائیلي نامې دي. یزید عربي نوم دے چه د "زاد" زیات شو، ډیر شو. زیاتوالي، ویړوالي، خیر او برکت نه مشتق دے. دغه نوم په بنـي اسرائیل یا د هغوي په آثارو کښې کټ مټ دغه شان نۀ شي لیدے خو "جزئیل" نوم شته چه مطلب ئې دے "خدائے ویړ کړو". او دا شان نۀ شي لیدے خو "جزئیل" نوم شته چه مطلب ئې دے "خدائے ویړ کړو". او دا خبره به دلته د دلچسپی نه خالي نۀ وي چه (ج) او (ي) او (د) اول په ترتیب په وینا کښې متبادل وۀ لکه "جیروسیلم" او یروشلم"، "جوناه" او "یونس"، "جان" او "یحيٰ" وغیره هم او "ویلي" (انګریزي) او "وادي"(عربي)، "دس" (اردو) او "لس" (پښتو) "پلار"(پښتو) او "پدر" (فارسي) او اګر که "زاد" مفرده مادّه او "جزئیل" مرکب لفظ دے خو کیدے شي چه عربو روایت کړونو او لیکوالو د معنو او د حروفو د تعلق له قبله په یزید کښې بدل کړي دي خو د (ا) په ضمن کښے له وینا او چه څۀ تر اوسه د بحث د لاندي سوال (ب) په حقله وونیل شول ترې حتما نۀ ثابتیږي چه ګنه قیس چې ابن اثیر او حافظ ابن حجرؒ ئې ذکر کړے دے اسرائیلي الاصل وۀ. لکه چه د هغوئ له بیانه ښکاري د قیس وطن د یوۀ غرۀ چه سلمان یا سلیمان ئې نوم دے خواؤشا کښې وۀ او معلومه خبره ده چه د پښتنو یوه مشهوره قبیله کاسي هم په دغه ملک یا علاقه کښې اوسي. او دا وئیل به خائے لري چه ګوندې دغه سړے چه د حضرت سید الانام علیه الصلوٰۃ والسلام په خدمت بابرکت کښې حاضر شوے وۀ د کاسي قبیلې څوک غړے یا ملک وۀ او په عربي روایاتو کښې د خپلې قبیلې د نامې له رعایته قیس وبللے شو. دا هم یاد لرل باید چه تاریخ رابښیي چه یوۀ لرغوني قام چه کاسي نومیدو خروج کړے وۀ. ډیره موده ئې د شام، فلسطین په علاقو او خواؤشا کښې استوګه کړې وه. او له دغه خلقو ځنې زر یا څۀ موده پس بیا خپل وطن ته چه سجستان یا سیستان یاد شوے دے راستون شول نو په نورو تورو کښې بیا د

پښتونخوا خواؤشا راغلل نو له قياسه بهر نهٔ دي چه زر يا ډيره موده پس (خروج كوونكو له اولاده څنـې خلـق بيـرته خپل وطن ته راغلي او بيا هورې آباد شوي وي نو ځان سره ئې څنې سامي، عبراني او عربي نامې او روايات هم راوړي وي.

د پښتنـو نسـابانو د پښتنو د اسرائيلي الاصل كيدو په حقله د بيان جاج دلته لكه چې بايد نهٔ شي اخستلے كيدے. په حق كښې او په خلاف ئې ډير څهٔ وئيل كيدے شي خو لكه چې هـر څـو ئې په خلاف ډير هم وئيل كيدل شي خو دومره خوشې تشې خبره هم نهٔ ده لكه چې د اكثـرو مـغـربـي مـؤرخانو او د هغوي په تقليد كښې زمونږ د اوسني دور څنو بلكې ډيرو خپلو ليـكـوالو هم ګنلې ده. د بيان د ډير زيات طوالت نه د بچ كيدو دپاره د پښتنو نسابانو د موقف پـه تـائيـد كښې چې كوم شهادت او دلائل پيش كيدے شي هغه نهٔ راښرځيروم مختصراً دومره عرض كوم چې د پښتنو اهل انساب د بيان له رويه هم ټول پښتون قام اسرائيلي الاصل نهٔ دے بلكې يوه ګنه پكښې وصليان دي چې كرلانيان او فرمليان وغيره هم بلل شي. د اهل انساب د ويـنا له رويه د قيـس اسرائيلي چې د حضرت سرور كائنات ﷺ معاصر او د هغوي په خدمت كښې ئې د حـاضريدو او د اسلام قبلولو سعادت او شرف حاصل كړے وهٔ درې زامن سړبن، بيټ يـا بـټـن او غـورغـوشت وو. پښتانهٔ د قيس د دغې دريو زامنو اولاد هم د دوي په نامه په دريـو لـويو برخو سړبني، بيټني، غورغوشتي كښې ويشلے دے. يوه څلورمه برخه كرلاني بلل شـي. سړبني، بيټني، غورغوشتي اصليان او كرلاني د سړبنو وصليان ګڼل شي. د كرلاني چې پـكـښـې د خـټـک، شيټک، وزير، محسود، دوړ، آفريدي، وركزي، بنګښ، توري، خدران، خـاځـي، خوګياني، دلازاک او اتمانخيل وغيره هم قبيلې شاملې دي نه علاوه په شجرو د نظر اچـولـو نه معلوميږي چې څنې نورې قبيلې هم وصلي بللې شوي دي خو كرلاڼ سره د سړبن د وصـلـي كيـدو د څـلورمې برخې حيثيت لري. د كرلاڼ په حقله وئيلے شي چې د اورمړ قبيلې (چې له سړبن وهٔ) دوه كسان عبدالله او زكريا صحرا ته وتي وو عبدالله كړهے بيامونده او زكريا يـو هلک چې هم هغه شپه زيږيدلے وهٔ د عبدالله زوے نهٔ وهٔ او له زكريا ئې خواست وكړو چې هـغـه هـلـک د كـړهـې په بدل عبدالله لره وركړي. د زكريا خپل زامن ډير وو نو هغهٔ د عبدالله خـواسـت ومـنـلو. دغه هلک هر كله چې كړهې سره ئې بدلون شوے وهٔ كړانے بلل شو. چې ستر شو په ارمړو كښې ئې وادهٔ وكړ او اولاد ئې په كړاني، كراني يا كرلاني وبلل شو. نو اهل انساب كرلاڼ د قيس له اولاده نهٔ دے شميرلے. علاوه له كرلانيو په پښتنو كښې يوه ډيره لويه ګنه داسې هم ده چې اګر كهٔ هغه د قيس له اولاده خو ده خو د لور له خوا. وائي چې د قيس د زوي بيـټ دوه زامـن كـجيـن او ورشپـون او يـوه لور بي بي متو وه. يو زوے ئې بل هم وهٔ چې

اسماعیل نومیدهٔ خو هغه ئې خپل مشر وررور سړبن ته بخښلے وهٔ. او هم هغهٔ کره لوے شوے وهٔ. د بیټ اولاد هم د کجین ورشپون او متو په نامو یاد دي اصلي بیټنے کجین او ورشپون دے او د بي بي متو او شاه حسین غوري اولاد متي بلل شي. او کهٔ هر څو په بیټنو کښې شامل دے د قیس صلبي اولاد نهٔ دے ګڼلے شوے. دغسې متي د پښتنو یوه پینځمه لویه رخه ده چې د غلځي، لودي او سرواني غوندې قبائل پکښې شامل دي. نیازي، نوحاني، لودي، ووتاني او مروت وغیره هم قبائل هم د لودیانو نمائنده ګان دي. یوازې غلځے دومره لویه قبیله ده چې د پښتنو متل دے چې د خدائے تعالې خدائي ده او د غلځي غلځي ده. اصل بیټنے د متي په مقابله کښې ډیر لږ دے او په پښتنو کښې یوه قبیله هم دومره ګڼه نهٔ ده لکه چې غلځے. قطع نظر له دې خبرې چې د پښتنو د نسابانو بیانات تر کومه حده صحیح او غلط دي کهٔ مونږ پرې غور وکړو نو هغوي هیڅ کله دا دعوې نهٔ ده کړې چې دا یو نسلي وحدت دے او هغه خلق چې افغان، پټهان یا پښتون بلل شي ټول د ملک طالوت (د قیس په واسطه) اولاد او اسرائیلي الاصل دے. او کوم قام دے خصوصاً په شلمه پیړی کښې چې د نوغي له اعتباره خان بې ګڼونه بلل شي، د خپل نسل د خالص او واحد کیدو دعوې کولے شي. نو د پښتون قام جوړښت هم څهٔ ضروري نهٔ ده چې د نسلي یووالي له قبله وي دغه جوړښت له نورو شیانو لکه د یو دین، یوې ژبې، یو آئین، د ننګ او ناموس د یو دستور او په یوې زمکې له استوګې هم کیدے شو او شوے دے.

په هر کیف د یوهٔ قام روایاتو او آثارو ته په داسې نظر کتل لکه چې نوعیت ئې د ډورن او اکثرو نورو مغربي لیکوالو له انتقاداتو او بیاناتو بریښي د علم له شانه سره سم نهٔ دي. راورټي د طبقات ناصري په خپله انګریزي ترجمه کښې د جلد اول ص ۳۱۴ په یوهٔ ځائے چې تړې بنکاریږي چې د هارون الرشید عباسي معاصر د غور د امیر بنجي په عهد کښې په غور کښې یا خواؤشا ئې اسرائیلیان آباد وو حاشیه لیکلې ده چې خلاصه مطلب ئې دا دے چې د هغو دپاره چې د پښتنو د اسرائیلي الاصل کیدو په دعوې یا خیال معترض وي دا ځائے د پام وړ دے. او د مغربي لیکوالو په حقله وائي چې هر کله چې دغه دعوې یا خیال د پښتنو په روایاتو بنا لري نو مغربي لیکوال ئې په رد کولو کښې زور لګوي خو کهٔ چرې دا خبره د دوي د خپل تحقیق نتیجه وے نو په ثابتولو کښې به ئې هم دومره زور لګولو لکه چې اوس ئې په رد کولو کښې. دلته به دا عرض کول مناسب وي چې طبقات ناصري د هندوستان د غلامانو بادشاهانو په دور کښې لیکلے شوے یو زوړ او ډیر قیمتي علمي او تاریخي اثر دے. او له بره یاد شوي بیانه ئې د دې خبرې څخو رد کیږي چې د پښتنو د اسرائیلي الاصل کیدو خیال د

مغلو په وخت یا د هغوي نه وړومبے د لودیانو یا سوریانو د حکومت په زمانه کښې پیدا شوے وۀ. کۀ هر څو د پښتنو د اسرائیلي الاصل منلو کښې ډیر علمي مشکلات دي نو په دغه قام کښې د یوۀ اسرائیلي عنصر د ګډون په حقله د غور قابل شهادت پیش کیدے شي. دا بیله خبره ده چې هغه حتمي او قطعي دے او کۀ نه.

(ج) دا بیان نۀ خو له کومه معتبره روایته ثابت او نۀ له درایته سم دے قیس نامه په عربو کښې عامه وه او د رسول الله ﷺ د خنو اصحابو نامه هم قیس وه. نو په داسې حال کښې د نظر د لاندې د بیان صحت غیر اغلب دے.

(د) دغه بیان هم د اعتبار وړ نۀ دے ځکه چې د عهد نبوي ﷺ په آثارو کښې ئې د تائید دپاره هیڅ مواد نۀ شي بیاموندے.

(ه) دغه مسئله هم د (ج) او (د) په شان ده. بیا عجیبه خبره دا ده چې پښتنو ته خو تراوسه نۀ ده معلومه او کۀ ورته معلومه ده نو په هندوستان کښې لیکلي شوي فارسي تاریخونو نه چې د هغوي مشر نیکۀ ته د رسالت مآب ﷺ له درباره د بطان خطاب ورکړے شوے وۀ او له دې قبله د دغه قام نامه پټهان شوه. او په هندوستان کښې ناست مؤرخان ئې د نامې له توجیهه خبر وو. اګر کۀ دا خو ضروري نۀ ده چې قیس ته د دربار رسالت نه د خطاب عطا کیدو د واقعې نه دې عام پښتانۀ خبر وے خو کۀ د دې خطاب له قبله د دې قام نامه پټهان شوې وه نو اخر څۀ وجه وه چې د قیس له وخته تراوسه پورې دغه قام په خپل هیواد او زمکه چرې خان ته پټهان ونۀ وے. او کۀ چا ورته وئیلي دي یا ورته وائي نو په هندوستان کښې یا پاکستان کښې د اباسین کین لورې ته پښتونخوا کښې صرف هغه خلق چې هندکو، هندي او پنجابي سره یوه مشابه وینا وائي پښتانۀ پټهان بلي.

پښتنو خان ته پخپله عام طور سره تقریباً تل تر تله پښتون او شاذ افغان وئیلي دي. پښتانۀ چې هندوستان ته لاړل نو په پټهان او روهیله وبلل او مشهور شول. او مغلو او ایرانیانو به ورته کۀ د پښتونخوا وو او کۀ د هندوستان افغان وئیل. او زمونږ کلاسیکي ادب کښې د افغان نوم استعمال هم د فارسي د اثر لاندې دے.

اوس نو باید چې د روهیله او پټهان په اصل څۀ نور غور وکړو. پښتونخوا ته به ئې پخوا خصوصاً فارسي لیکونو کښې روه هم وے. او زمونږ پخواني ادب کښې هم دا تورے په طور د پښتونخوا د متبادل پکارولے شوے دے لکه:

چې د روه په ملک کښې بنۀ پښتون یادیږي
مومند، بنګښ، ورکزي، اپریدي دي (خوشحال بابا)

قاصدان له روهه نهٔ راځي مدت شو
سلام باد رارسوي منت ئې تم دے (اشرف خان هجري)
په هندي ادا ئې وکړې په ما چارې
زهٔ شیدا په زړهٔ ساده د روه افغان یم (کاظم خان شیدا)

روه یا روهي جنوبي پنجابي یا ملتاني لفظ دے. او د غر او کوهستان په معنیٰ کښې استعمالیږي. او لکه چې کیرو وائي دا نوم جنوبي پنجابیانو او بلوڅو په پښتونخوا اېښے دے. (وګورئ دي پټهانز ص ۴۳۹ تعلیقات ۶ د مقدمې او ۴ د باب اول) نو اوس کهٔ د روهیله په ترکیب غور وکړو نو د دوؤ تورو "روهي" یا "روه" او "والا" نه به جوړ شوے رابښکاره شي. چې مطلب ئې دے غرونو والا، کوهستان واله یا غرځنے، کوهستانے.

د پټهان نوم هسې خو نور هم ډیر توجیهات شوي دي چې مونږ به ئې زر بیان کړو خو چې کومه توجیه د تاریخ بلند شهر مؤلف کنور لچهمن سنګهه کړے او بناغلي عبیدالله خان صاحب مرحوم د تاریخ باره بستي مؤلف په خپل کتاب کښې راوړې ده هغه د روهیله پورتنی توجیه سره ډیره سمه او زړهٔ ته پریوتونکې ده. ستانیلے کنور وائي چې د هندوستان په ډیرو ژبو کښې غر ته پاتهه وائي. او د آنا معنیٰ ده راتلل. نو د پټهان معنیٰ له غرونو راتلونکے ده. دلته باید چې دا هم ووئیل شي چې د پټهان بل صورت پټهاڼ دے او د "آ" او "انا" هم یوه معني ده.

یوه بله توجیه دا ده چې لفظ پټهان د پښتانهٔ (پښتون د جمع په صیغه کښې) متبادل هندي شکل دے. کیرو ئې هم دغه توجیه کوي. خو په دې حقله سوال راپیدا کیږي چې په هندی کښې پښتانهٔ معمولي طور سره څنګه په پټهان کښې بدل شو. هندی ته د انتقال په وخت پکار وو چې د پښتانهٔ ښ = خ او ش د حذف کیدو په ځائے په هندی "کهه" یا "ش" کښې بدل شوے وے. بلکې په سنسکرت او هندی کښې د پښتو د "ښ" متبادل او کهٔ نه ورته نزدې اواز موجود دے. چې بغیر له حرکته یا ساکن وي (لکه د پښتانهٔ ښ) نو لیکل کیږي کهه او ش به د سکون په حالت کښې په ترتیب او لیکل شي. د غو نیمو شکلونو ته ماترا وائي. بیا "ت" په هندی کښې شته نو په پښتانهٔ کښې ئې د مرکب آواز تې هه = تهه سره ئې د بدلولو څهٔ ضرورت وهٔ؟ نو کهٔ پښتانهٔ هندی ته اوړیدلے نو یا خو به پښتانهٔ یا پښتان وے. (د ن زور کے به یا په زور بدلیدے یا به حذف کیدے) او کهٔ نه نو پکهتانٔ یاٰ پشتانٔ.

ځنې خلق وائي چې پښتنو ته دې دپاره پټهان وائي چې دوي د بهار په پټنه نومے ښار کښې آباد شوي وو. دا خبره هم هسې ویشتلے شوے غوندې ده. نهٔ خو د دې خبرې څهٔ ثبوت

شته چې پښتانهٔ وروميے د بهار په ښار پټنه کښې آباد شوي وو (بلکې وروميے په قطبي لوديز هندوستان کښې آباد وو او بيا ورو ورو سهيل ختيز ته خوريدهٔ) او نهٔ صوتي لحاظ سره پټنې ته د منسوب کيدو په وجه پټهان جوړيدل قياس ته نزدې دي.

يوه بله توجيه دا کيدے شي چې هر کله چې په هندوستان کښې د پښتنو بادشاهانو درې واړه کورنۍ غلځي، لودي او سوري له بټني ويشه وے نو له دې قبله هندوستانيانو د بادشاهي کورنو له مخه د هغوي ټول قام هم د هغه ويش په نامه وبللو. چې ورځنې بادشاهي کورنۍ وے. او بټني نو په بټن، بټان او پټان کښې بدل شو. اول خو دا توجيه هم له لفظي او صوتي لحاظه مستبعد قياسات غواړي. بيا د دې خبرې هيڅ ثبوت نشته چې دغه بادشاهي کورنۍ بے د خپلو قبيلوي نومونو په عوامو کښې په بل کوم نوم لکه د ويش په نوم مشهورې وے.

۲. پښتو نسخې د "ثقفي" په ځائے "سقفي" . د "بياموند" او "حجاج" ترمينځه او د فارسي عبارت په رڼا کښې زما اضافه ده. دغسې د "مدار المهام" نه پس او د "عمادالدين" نه وروميے "د هغهٔ" هم ما د فارسي عبارت او تاريخي حقائقو په رڼا کښې علاوه کړل. حجاج بن يوسف ثقفي د عبدالملک بن مروان او وليد بن عبدالملک د حکومتونو په زمانه کښې د عراق او خراسان گورنر وهٔ. او له چې خواجه نعمت الله وائي مدارالمهام چې د حکومت په معاملاتو کښې ئې ډير زيات عمل دخل درلهٔ. محمد بن قاسم چا د حجاج خورزے (خوريے) او زوم بللے دے (لکه چې خواجه نعمت الله وائي وګورئ ن ز ۱/۴۹ "خواهر زادهٔ او بود" او ن ح جلد ۱ ص ۱۱۵ "خواهر زاده و داماد حجاج بود" څنو د حجاج تربور يا ذکر‌ے دے. (د حتي تاريخ عرب ص ۲۸۱) او چا ورته د حجاج ورارهٔ او زوم وئيلي دي. (قاموس المشاهير جلد ۲ د ميم پټی) په ن ح ص ۱۱۵ متن کښې "محمد هارون" حاشيه ۵ په حواله د مخزن افغاني: "عمادالدين خواهرزاده خود را در سنه هشتاد و شش من الهجرة الخ" يعني خپل خوريے عماد الدين ئي په ۸۷ هجري کښې الخ. په حواله د اخبار اولياء "درسن ستہ وثمانين محمد ہارون الخ" يعني په ۸۲ هجري کښې ئې محمد هارون الخ.

عبدالملک بن مروان په ۸۲ هجري کښې مړ وهٔ او دغه فتوحات د هغهٔ د مرګ نه څهٔ موده پس د وليد بن عبدالملک په عهد کښې محمد بن قاسم چې د مکران گورنر وهٔ (۸۸، ۸۹ هجري او ۹۲ هجري تر مينځه کړي وو، محمد بن قاسم چې په دغه دوران کښې کومه زمکه فتح کړې وه په هغو کښې سندهـ، بلوچستان، ملتان او تر بياس پورې د پنجاب علاقې شاملې وے. (وګورئ د شرقينو کوچنے تاريخ له سيد امير علي مرحوم ص ۱۰۴) په

فارسي نسخو کښي د مراجعت کال د ن ز ۴۹/۱ مطابق ۹۴ هجري او د ن ح جلد ۱ ص ۱۱۶ متن مطابق ۹۳ هجري ليکلے دے خو د ن ح حاشيه ۱ کښې د يوې بلې نسخې په حواله ۹۴ هجري او د اخبار الاوليا، په حواله سته و تسعين يعني ۹۶ هجري ليکلے دے.

۳. ن ز ۴۹/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۱۱۶ متن "اربع مائة"، يعني ۴۰۰ د ن ح په حاشيه کښې هم د ډيرو نسخو د حوالو له رويه "اربع مائة" يعني ۴۰۰ دے. ليکن د مخزن افغاني د يوې نسخې له رويه "اربع و اربع مائة" يعني ۴۰۴ دے. دا سنونه صحيح نهٔ دي وګورئ زمونږ ص ۴۵ نوټ ۱

۴. دا ميعاد ډير زيات بيان شوے دے. سلطان هم دغه مياشت نيمه په سومنات کښې تيره کړې وه. د ن ح فاضل محشي د ډکتور محمد ناظم د کتاب "سلطان محمود غزنوي" ص ۱۱۸ په حواله ليکي چې سلطان په سومنات کښې دوه هفتې تيرې کړے وے. وګورئ ن ح ص ۱۱۸. د سومنات په مهم سلطان له غزني په ستمبر ۱۰۲۴ء (اواسط ۴۱۵ هجري) کښې روان شوے وهٔ او سره د فتح او کاميابي تقريباً د يو نيم کال نه پس غزني ته بيرته راغلے وهٔ. غالباً د کال ۴۱۷ هجري اوائل او د کال ۱۰۲۶ء اواسط کښې.

۵. خوشحال بابا په دستار نامه کښې "اولسم هنر د تحقيق نسب" د عنوان لاندې ليکلے شوے مقاله کښې وائي "خطاب د ملک د ملک طالوت په نسبت دے. عربان چې په خراسان راغلل د ديو نسب ورته معلوم وهٔ چې مسلمانان شول ورته ئې ووې چې تاسو د ملک طالوت اولاد ياستئ. په اسلام کښې د تاسو خطاب هم ملک دے. د پټهان خطاب آل سبکتګين چې د غزنې بادشاهان وو هغو ورکړے دے. د سومنات په غزا چې ګجرات لره سلطان محمود راغلے وهٔ پښتون ډير مبنود وکړو. سلطان ورته ووې چې دا دې ما د لښکر پټان دي. پټان يو لر ګے دے چې جهاز په هغهٔ مرتب کيږي." (پېښور چاپ ص ۱۷۸، ۱۷۹ او کابل چاپ ص ۸۵).

خوشحال بابا په بره ياده شوې مقاله کښې د پښتون د نسب په حقله څنې نورې داسې خبرې هم ليکلې دي چې هغه د خواجه نعمت الله او د نورو ډيرو لرغونو ليکوالو له بيانه چې زمونږ د انتقادي دور نه وړاندې عام طور سره په پښتنو کښې منلے شوے دے اختلاف لري. خوشحال بابا د پښتون د نسب په حقله د مختلفو نظريو (چې د يوې له رويه پښتانهٔ د يافث ابن نوحؑ اولاد، د دويمې له رويه قبطي، د دريمې له رويه د يهودا بن يعقوبؑ اولاد او د څلورمې له رويه کرد دي) د بيانونو نه پس وائي "اما تحقيق چې بلا اختلاف وشو واړه پشتون د ابراهيمؑ پيغمبر د ورور اولاد دے." (پېښور چاپ ص ۱۷۵، ۱۷۶ کابل چاپ ص ۸۳) او بيا ليکي

"د دوي نسب منسوب په دانيال پيغمبر دے. اسلام ئې د بني اميه د خلافت په عهد وشو. حضرت دانيالؑ د ملک طالوت د نسل دے ملک طالوت د ابراهيمؑ پيغمبر د ورور ذريات دے." (پېښور چاپ ص ۱۷۹ کابل چاپ ص ۸۵)

اسرائيل د حضرت يعقوبؑ خطاب دے او د هغوي اولاد ته بني اسرائيل وئيل شي. آنجنابؑ د حضرت ابراهيمؑ د فرزند حضرت اسحقؑ فرزند دي. نو کۀ پښتانۀ د حضرت ابراهيم عليه السلام د ورور اولاد شو نو بني اسرائيل نۀ شو. علاوه له دې د خوشحال بابا حضرت دانيالؑ ته د حضرت ابراهيمؑ د ورور له اولاده وئيل هم د بائبل له بيانه مختلف دي. په بائبل کښې هغه لـه بني يهودا اسرائيليانو بيان شوے دے. (وګورئ په زړه عهدنامه کښې د دانيال کتاب) او لکه چې تاسو ورومبے ولوستل د بائبل د بيان له رويه ملک طالوت بن يميني اسرائيلي وۀ. اګر کۀ له قرآنه دا خو نۀ معلوميږي چې طالوت د بني اسرائيل د کومې قبيلې وۀ خو لکه چې تاسو ولوستل چې کوم وخت بني اسرائيل له خپله نبيؑ خواست وکړو چې ورله بادشاه مقرر کړي نو د خدائے په امر د وخت نبيؑ هغوي خبر کړل چې طالوت ئې بادشاه وټاکلے شو. او د بني اسرائيل اعتراض د طالوت په نادارى وۀ نۀ په دې چې هغه له بني اسرائيل نۀ دے کۀ هغه غير اسرائيلي وے نو اغلبه دا ده چې د بني اسرائيل ورومبے اعتراض به د هغۀ په حقله نۀ وۀ خصوصاً چې هغوي بني اسماعيل هم چې سکه ورونه ئې وو هم له خانه يو نۀ ګڼل. په هر حال د قرآن پاک له بيانه هم دا ظاهريږي چې طالوت له بني اسرائيل ځنې وۀ.

داسې به د خوشحال بابا د پورتني بيان په لړ کښې دا اضافه له دلچسپى خالي نۀ وي چې يو بل مؤرخ محمد موج حسين خان مهمند په خپل کتاب مراة العالم موسوم به تحفة الپښتون کښې پښتانۀ د حضرت ابراهيم عليه السلام اولاد د هغوي د بي بي حضرت قطورهؓ نه ياد کړي دي. دغسې د ستائيلي خان صاحب په نزد پښتانۀ له اهل مدين ځنې دي.

ص ۴۵

ن ز "چهار صد و بست و يک" (۴۲۱) ن ح "احدي و عشرين و اربع مائة" (۴۳۱) ن ا او ن ب ۴۲۱ خو د ن ا په حاشيه کښې "مخزن ۴۲۱". ډورن تعليقات ۷۹ کښې ربيع الثاني ۴۲۱ء. سلطان محمود د عاشورې په شپه (يعني په ۹ محرم د شپېه) په ۳۶۱ هجري (۲/۱ نومبر ۹۷۱ء) زيږيدلے وۀ او په ۳۸۷ هجري (۹۹۷ء) کښې چې ئې پلار سبکتګين ومړ نو کشر ورور اسماعيل تـه د شکست ورکولو نه پس په ۳۸۸ هجري (۹۹۸ء) کښې بادشاه شوے وۀ. د وفات کال ئې ۴۲۱ هجري مطابق ۱۰۳۰ء دے. (وګورئ دولت غزنويه دي غزنوائيډز، سلطان محمود آو غزنين، طبقات ناصري جلد ۱ ص ۲۶۹، ۲۷۰، ۲۷۳ مدت

عمر اوشصت و یک سال و عهد و ملک او سي او شش بود منتخب التواريخ ص ۳٦ ـ ۴۱.
عـمـر ٦۰ کـالـه او د حکومت زمانه ۳۱ کاله. په دولت غزنويه کښې د سلطان د ولادت کال شـب عـاشـوره ۱۷۱ ۲ او طبـقـات نـاصـري کښې شب عاشوره سنه احدي و سبعين و وثلثمائة (۳۷۱) ليـکـلـے دے. خو هر کله چې د سلطان د وفات کال په اتفاق ۴۲۱ هجري دے او عمر ئـې ٦۱ کـال (لـکـه چې طبـقـات ناصري هم ليکلي دي) يا ٦۰ کاله دے نو د ولادت کال ئې ۳٦۱ هـجـري دے. عـلاوه لـه دي طبـقـات نـاصـري ص ۲۷۰ د سلطان د ولادت کال د امير بـلکاتگس (ملکاتگين) د عهد په اووم کال کښې ښيي. او (ص ۲٦۸) د ملکتگين د حکومت زمـانـه لـس کـالـه بيـانوي. او بيا د امير پري چې د دهٔ نالائقه جانشين وهٔ د حکومت د زمانې د ښـودلو نـه بـغيـر په ۳٦٦ هجري کښې د محمود د پلار سبکتگين د امارت ذکر کوي. نو کهٔ مـونـږ د پـري چې د خپلې نالائقي له قبله زر له حکومته محروم شو د حکومت زمانه دغه کال دوه فـرض کـړو او دولـس کـالـه د ۳٦٦ هـجري نه وباسو نو د ملکاتگين د حکومت آغاز به ۳۵۴ هـجـري کښـې وي او اووم کـال بـه ئـې ۳٦۱ هـجري وي. د دې نه علاوه نور هم ډير قرائن زمونږ د دې بيان په تائيد کښې دي.

۲. مط ن ح ص ۱۱۹ د بانکي پور خدا بخش لائبريری د نسخې په بنا. هر کله چې مخکښې د سـلـطـان د يـوهٔ اميـر نـامـه هم معز الدين راتلونکې ده نو د ن ح د عبارت د قبلولو په وجه دا وضـاحـت مـنـاسـب بلکې ضروري دے چې سلطان محمد غوري د شهاب الدين معز الدنيا او معز الدين په نامو هم مشهور دے. (طبقات ناصري جلد ۱ ص ۳٦۸، ۳٦۹ الخ و تاريخ فرشته جلد ۱ ص ۵٦ الخ)

۳. د گـجـرات نـاکام مهم ته اشاره ده. سلطان په ۵٦۴ هجري (۱۱۷۸ ء) کښې د ملتان په لاره په گجرات حمله وکړه خو د نهرواله يعنې انهلواړه يا پټن راجه بهيم ديو بگهيله ثاني ورله شکست ورکړ او ډير مسلمانان شهيدان شول.

۴. سلطان چې په گجرات کښې ناکام شو نو دا فيصله ئې وکړه چې د هندوستان د اخستو لار د سـنـدهـ او ملتان له لوريه نه بلکې د پنجاب له سيمې ده. په دې لړ کښې د خو مهمونو نه پـس پـه ۵۸۷ هجري (۱۱۹۱ ء) کښې سلطان بټهنډې او سرهند پورې راغلو او دا علاقه ئې واخستـه. دا وخـت د هـنـدوستان په راجگانو کښې د سر سرے راجه پرتهوي راج چوهان وهٔ چې په رائ پتهورا هم مشهور دے. دے د اجمير راجه وهٔ. او د دهلي گدی هم د دهٔ لاندې وه او هـلتـه ئې خپل وررور گوبند رائ (چې ځنې مؤرخان ئې نامه کهانډے راؤ هم ليکي) په نيابت ټاکلے وهٔ. پرتهوي راج چې خبر شو نو سره د گوبند رائ يو لوے لښکر ئې د سلطان د مقابلې

دپاره راوست سلطان سره ډیر لږ فوځ وهٔ. خو سلطان په ځائے د تیښتې جنګ غوره کړو. د کرنال او تهانیسر تر مینځه زوړ تارائن کلي څخه (چې غالباً د سرسي او بتهنډې تر مینځه اوسنے تارون کلے دے) مقابله وشوه. خو مسلمانانو ماتې وکړه او سلطان چې ډیر سخت ژوبل شوے وهٔ یوهٔ غلځي ځلمي له میدانه سلامت وویست. دویم کال ۵۸۸ هجري (۱۱۹۲ ء) سلطان سره د څهٔ دپاسه یوهٔ لکه لښکره په هندوستان حمله وکړه. پرتهوي راج سره د دریو برخو زیاته فوځه د ګوبند رائ او نورو ډیرو راجګانو په امداد مقابلې ته راغے. هم په هغه زوړ ځائے بیا جنګ وشو او مسلمانان بر شول. ګوبند رائ قتل شو پرتهوي راج د تیښتې کوشش وکړو خو د سرستي ندی څخه ونیوے او بیا په قتل ورساوهٔ شو. سلطان په هندوستان کښې خپل مریے قطب الدین ایبک په نیابت پریښود او پخپله پښتونخوا ته راستون شو. دغه شان سلطان په هندوستان کښې د اسلامي سلطنت بنیاد کیښود او پسته سلطان او د هغهٔ نائبانو قطب الدین او اختیار الدین بختیار غلځي د باقي هندوستان فتح کولو کار هم جاري وساتلو. سلطان او قطب الدین شمال مغربي هندوستان فتح کړو ان چې په ګجرات ئې هم دوه خله کامیابې حملې وکړے. ورومبے ئې په ۵۹۱ هجري (۱۱۹۴ ء) کښې د انهلواړه راجه بهیم دیو له شکست ورکړهٔ او بیا چې په ۵۹۲ هجري (۱۱۹۵ ء) کښې په اجمیر کښې چوهان راجپوتو بغاوت وکړ او د ګجرات فوځونه ئې هم امداد له راغلل نو قطب الدین پس له ډیره نقصانه او پخپله د ډیر ژوبل کیدو د امیر په قلعه کښې په خوندي کیدو مجبور شو خو له غزني ورته کومک راورسید. او چوهان راجپوت د هغوي مهر (د اجمیر په خوا کښې یوه غرسنی قبیله) او ګجراتي راجپوت مرستیال ئې مات کړل. پس له لږې دمې قطب الدین د ګجرات راجه له د سمې سزا ورکولو فیصله وکړه. او د هغهٔ په ملک ئې حمله وکړه. ډیر د زور او شور جنګ وشو خو راجپوت مات شول. ۱۵۰۰۰ قتل ۲۰۰۰۰ بندي شول. قطب الدین بنار تالا کړ او سره د ډیرې اولجې واپس شو. د کالنجرو راجه پرمل چندیل دوه کوټونه کالنجر او مهوبه ئې هم واخست علاوه له دغو ئې نور اهم فتوحات ډیر وکړل. د اوسني یوپي (اترپردیش، د انګریزانو یونائیټډ پراونسز یعنې صوبه جات متحده) ډیر ښارونه او علاقې ئې واخستے. اختیار الدین بختیار خلجي د بهار او بنګاله ملکونه فتح کړل. په دغه دوران کښې سلطان څو خله پخپله هم هندوستان ته په مهماتو راغے. د سلطان شهاب الدین مشر ورور سلطان غیاث الدین چې سلطان شهاب الدین تراوسه د هغهٔ نیابت کولو په ۵۹۹ هجري (۱۲۰۲ ء) کښې حق ورسیدو. اولاد ئې نهٔ وهٔ او هم سلطان شهاب الدین د غزني او ملحقاتو او توابعو د حکومت بشپړ واکمن شو. هر کله چې سلطان شهاب

الـدين هم په ۶۰۲ هجري (۱۲۰۶ ء) کښې چې واپس پښتونخوا ته روان او په لاره.کښې د جهلـم د عـلاقـې پـه يـوهٔ ځـائـے کښې ايسار وهٔ د شپې ځنې کسانو چې د مؤرخانو يوې ډلې د حسـن بـن صبـاح پيـروان ګنـلـي دي شهيد کړ [دغه وخت سلطان د پنجاب د کهو کهرو د بغاوت رفع کولو دپاره راغلے وهٔ او قطب الدين ئې هم راغوښتے وهٔ د کهو کهرانو ئې سر کوبي وکړه او د واپسـی په سفر کښې جهلم سره کهو کهرانو هندوانو لکه چې اکثر مؤرخان ليکي شهيـد کړ. کيدے شي چې د حسن بن صباح مريدان هم په قاتلانو کښې شامل وو او د سلطان شهادت د يوهٔ منظم سازش نتيجه وه.] نو قطب الدين ايبک د هندوستان باچا شو.

سـلطان محمود غزنوي او سلطان شهاب الدين محمد غوري د اسلامي تاريخ له ډيرو لـويـو شخصيتونو ځنې دي. د مؤرخينو يوه لويه او معتبره ډله غوريان سلطان شهاب الدين او د هغهٔ د فوځ يوه اهمه برخه پښتانهٔ ګني.

۵. مط ن ز ۲/۵۰ و ن ح جلد ۱ ص ۱۲۰ زما د وړاندې پښتو نسخو کښې درله هندوستانه غور ته راروان کړه الخ".

۶. مط ن ا. ن ب "آباد".

۷. ن ز ۲/۵۰ و ن ح جلد ۱ ص ۱۲۰ "اشنغر".

۸. د لیندو تر مینځه د فارسي نسخو په بنا زيات کړے شو.

صـ ۴۶

دغه واقعه د هندوستان د تسخير له مقدماتو ځنې ده. او د ګجرات د وړومبي ناکام مهم نه پس د پنجاب د نيوۀ د سلسلې يوه کړی ده. وګوریٔ د ص ۴۵ نوټ ۴.

۲. د ليندو ترمينځه دوه نامې د ن ح جلد ۱ ص ۱۲۲ په بنا اضافه دي.

۳. ن ا و ن ب حـول جـلالـي خو مخکښې په ص ۴۹ کول جلالي. ډورن حصه اول ص ۴۱ کول جلالي. ن ز ۲/۵۱ چول جلالي. ن ح جلد ۱ ص ۱۲۲ کهول جلالي ايضاً حاشيه ۴ يوه نسـخـه "از راه چـون بـه ملتان" بله " جول جلالي" بله "جون جلالي". کول د يو پې د مشهور بنـار عـلـي ګړهـ (د دهلي جنوب ځنځو مشرق ته) زوړ نوم دے. الفنستن خپل تاريخ هند سره اخـر کښـې لـګيدلې نقشه کښې دواړه نومونه ورکړي دي. او وګوریٔ ن ح جلد ۱ ص ۱۳۴ ر= ن ز ۲/۵۲) حـاشيـه ۱۵ کـول د اګـرې نـه ۴۰ ميـلـه لـرې شمال ته بيان شوے دے. او له ميـرتهـه ۹۰ ميله. دلته به دا وضاحت وکړم چې ميرتهـ د اګرې او علي ګړهـ دواړو شمال ته دے. د يـادې شوې حاشيې الفاظ داسې دي: "شهر کول در شمال آگره واقع شده از آنجا تا آگره چهل میل و میرٹ نود میل است." دا انـدازه تـري نهٔ شي کيدے چې ميرتهـ کوم لوري ته دے بلکې دا غلط فهمي هم

کیدے شي چې گوندې میرتهه د اگرې جنوب ته پنځوس میله وي. تر څو چې د ن ح په حاشیې کښې د بیان شوو فاصلو تعلق دے (چې د سیلي روډ بک آو انډیا ۱۸۲۵ء په بنا ورکړلے شوي دي) نو گوندې د دیو اندازه هم څهٔ کمه لګیدلے وي. جلالي نومے قصبه علي گړهه یا کول ته نزدې ۱۵ میله نمرخاتهٔ سهیل ته ده.

۳ الف. وګورئ الفنسټن یاده شوې نقشه. د لاهور نه جنوب ته قصور او د قصور نه جنوب ته څخو غرباً دیبالپور پروت دے. منټګمري او هړپه ترې شمال ته دي. دیبالپور کلے او تحصیل د مغربي پاکستان پنجاب په منټګمری (ساهیوال) ضلع کښې دي.

۴. پښتو نسخې ن ز ۵۲/۱ میرته، ن ح جلد ۱ ص ۱۲۳ میرطه. میرتهه خو د هندوستان د یو ېې مشهور ښار دے. چې د دې صفحې په نوټ ۳ کښې ئې هم ذکر شوے دے د مشرقي پنجاب جنوب مشرقي حدودو او دهلي ته نزدې پروت دے. بل میرته نومے یو ځائے په راجستهان کښې دے چې میرتیه راجپوت ورته منسوب دي. چې د راتهورو یوه څانګه ده. دلته ترې مراد میرتهه د یو ېې ښار او د هغه ځائے قلعه ده. ځکه چې سلسله کوه سوالک ذکر د دې قیاس تائید کوي. د غرونو دغه سلسله په شمالي هند کښې د مشرقي پنجاب انبالې او هوشیارپور کښې او په یو ېې کښې د ګنګا او جمنا ترمینځه تیره ده. او سهارنپور او ډیره دون سره بیلوي چې دغو وروستو علاقو او ځایونو ته میرتهه نزدې واقع دے.

۵. ن ح جلد ۱ ص ۱۲۳ په حواله د ایشیاټک سوسائټی کلکته د لائبریری د نسخې ۱۰۱ (د ملک احمد و یاسین)

ص ۴۷

د مشرقي پنجاب د انبالې په علاقه کښې وګورئ هم د دغه مخ نوټ ۹.

۳. ن ز ۵۲/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۱۲۵ "شش صد". د سلطان محمود په سومنات د حملې (۴۱۵_۴۱۶ هجري) نه د خواجه نعمت الله د تالیف د شروع کیدو (۱۰۲۰ هجري) پورې تقریباً ۶۰۴ کالونه. د سلطان د وفات (۴۲۱ هجري) نه د مخزن تر تالیفه (۱۰۲۰_۱۰۲۱ هجري) تقریباً ۵۹۹/۶۰۰ کالونه او د سلطان د تخت نشینی نه د کتاب تر تالیفه (۱۰۲۰_۱۰۲۱ هجري) مني ۳۸۸ کالونه = ۶۳۲ یا ۶۳۳ کالونه کیږي.

۵. اعني "زوے د". پښتو نسخې "سلطان مبارک شاه او سید خضر خان" ن ز ۲/۵۳ "سلطان مبارک شاه ولد سید خضر خان" ن ح جلد ۱ ص ۱۲۷ مبارک شاه (ولد) سید خضر خان (په حواله د بانکي پور خدابخش لائبریری د نسخې). د تیمور د واپسی نه پس چې په هندوستان کښې طوائف الملوکي ګډه شوه نو په دهلي کښې د خاندان سادات د

حکومت بنیاد کیښود. (۸۱۷ هجري (۱۴۱۴ء) او وروسته باچا نې شو. په ۸۲۴ هجري (۱۴۲۱ء) کښې وفات شو او مبارک شاه ئې جانشین شو. تر ۸۳۷ هجري (۱۴۳۲ء) ئې حکومت وۀ او په دغه کال قتل شو. (وګورئ منتخب التواریخ اردو ترجمه ص ۱۸۰ ـ ۱۸۳) او تاریخ فرشته جلد ۱ ص ۱۶۱ ـ ۱۶۹) د الفنستن تاریخ هند ص ۴۱۷ ـ ۴۱۸ مختصر کیمبرج تاریخ هند ص ۲۰۰ ـ ۲۰۱ او د پروفیسر سر واستوا "دي سلتینت آؤ ډیلهي" یعني د دهلي سلطنت ص ۲۵۵ ـ ۲۵۶) په منتخب التواریخ کښې د خضر خان د حکومت آغاز په کال ۸۱۶ هجري کښې دے. خو ما په فرشته او الفنستن انحصار وکړو ځکه چې منتخب التواریخ اردو ترجمه کښې هم د خضر خان د حکومت زمانه اووۀ کاله او څو میاشتې لیکلې ده.

ځنې مؤرخان دغه خاندان د ساداتو نۀ ګڼي او وائي چې د خضر خان پلار یو مجهول النسب سړے وۀ. مفصل بحث دپاره وګورئ د مولانا اکبر شاه خان کتاب "آئینه حقیقت نما" ص ۲۰۰ ـ ۲۰۲ دوارۀ حصې یو جلد)

۶ عبارت به داسې لوستل شي. د سلطان شاه لودي دے او په زمانه د سلطان مبارک شاه د سید خضر خان... چې اسلام شاه ئې خطاب وۀ." یعني ... د سلطان شاه لودي دے او د دې سلطان شاه لودي خطاب د سید خضر خان د زوي سلطان مبارک شاه په زمانه اسلام خان وۀ."

۷. ن ح جلد ۱ ص ۱۳۶ حاشیه ۱ د بانکي پور خدابخش لائبریری د نسخې ورق ۹۶ د سلطان بهلول شجره داسې ښيي: سلطان بهلول لودي بن ملک کالا بن ملک بهرام بن ملک احمد بن ملک شاهو بن عمر بن خواجه بن اسحق بن ابراهیم بن پرنکي بن ساني بن لودي بن شاه حسین "که از نسل سلطان بهرام حاکم غورستان بود." او منتخب التواریخ اردو ترجمه ص ۲۰۴ حاشیه ۱ بهلول بن کالا بن ملک بن موجي برادر ملک بهرام بن یاسین بن ملک شاهو بن اسحق بن عمر بن برنکي بن سپاني بن لودي بن مسماة بي بي متو لور د شیخ بیټ ارتینه د شاه حسین بن شاه معز الدین محمود بن جمال الدین حسین بن سلطان بیرام غور بن جلال الدین بن فریدون رشید بن اسفندیار... بن سام بن مهتر نوح علیه السلام"

۸. ن ز ۱/۵۳ و ن ح جلد ۱ ص ۱۲۹ "..... حسام خان را که..... و حاجي شدني نام داشت" فرشته د سلطان محمد شاه بن فرید خان بن خضر خان د عهد په احوال کښې (حلد ۱ ص ۱۶۹ ـ ۱۷۱) په صفحه ۱۵۰ لیکي "و حاجي صندلي المشهور به حسام خان شحنهٔ دهلي ګردید" ن ح جلد ۱ ص ۱۲۸ هم دغه الفاظ د فرشته نقل کړي دي خو صفحه ئې ص

۱ ۱ ۳ ليکلې ده. ظاهره ده چې د ايډيشن فرق دے . زما په مخکښې د نولکشور د لکهنو چاپه نسخه ده بيا ن ح ص ۱۲۸ د فرشته ص ۳۱۸ په حواله "حسام خان وزير الممالک" زما په مخکښې دغه خائے د فرشته جلد ۱ په ۱۷۴ دے . "سلطان محمد درين کرت حسام خان وزير الممالک را بالشکر انبوه به رفع آن فتنه فرستاد." معلومه دا شوه چې حسام خان د دهلي د شحنه يعنې د کوتوال مقرريدو نه پس نوره هم ډيره ترقي وکړه او وزير شو.

۹. ن ز ۱/۵۳ و ن ح جلد ۱ ص ۱۲۹ "درموضع کره من اعمال پرگنه خضرآباد وساڈهوره محاربه عظیم دست داد." يعنې د کره په کلي چې د خضر آباد او سادهورې د پرګنې له توابعو دے لوے جنګ وشو. "کره يا کهره (کړه يا کهوړ) خضر آباد او سادهوره د موجوده مشرقي پنجاب د انبالې په علاقه کښې د يو بل خواؤ شا پراتهٔ دي. يو خضر آباد(غربي) په کهور نومے تحصيل کښې بل (شرقي) په جګادهري نومے تحصيل کښې دے . او سادهوره د نارائن ګړه په تحصيل کښې ده. دلته د مؤلف مراد ترې د کهور تحصيل خضر آباد دے تفصيل دپاره وګورئ ن ح جلد ۱ ص ۱۲۹ حاشيه ۱ تا ۳. فرشته جلد ۱ ص ۱۷۴ د دغو خايونو نامې کدهسه او شاهپوره ليکي.

ص ۴۸

اعراب (په الف او ب زوورونه) مطابق د ن ز ۲/۵۳.

۲. غالباً چې واؤ مجهوله ده. نو وسله (شمشير) نه بلکې سکه (فارسي عبارت کښې تنګه) ترې مراد ده.

۳. د فارسي عبارت مطلب دا دے چې درويش ووې چې په دوؤ زرو تنکو له ما واخلې. بهلول خخه ديارلس تنګې وے . هم هغه ئې ورته کيښودے . او درويش قبولې کړے . ن ز ۲/۵۳ ن ح جلد ۱ ص ۱۳۰ ـ ۱۳۱ فرشته ص ۱۷۴ (۱۲۰۰ تنګه)

۴. د نظر د لاندې عبارت په شان بيان دپاره وګورئ فرشته جلد ۱ ص ۱۷۴.

۵. اضافه له ن ز ۱/۵۴ و ن ح جلد ۱ ص ۱۳۳.

۶. وفات سلطان محمد مطابق فرشته در سنه تسع و اربعين و ثمان مائة (۸۴۹ هجري) جلد ۱ ص ۱۷۱ د منتخب التواريخ اردو ترجمه ص ۱۹۶، ۸۴۷ هجري وړومبے سن يعنې ۸۴۹ هجري صحيح دے .

۷. مشهور تاريخي ميدان چې ډير جنګونه پکښې شوي دي. هم د دغه ښار او علاقې نوم ته منسوب دے . له کرناله جنوباً څخو شرقاً او له دهلي شمالاً څخو غرباً واقع دے .

ص ۴۹

د کرنال جنوب مغرب. پاني پت نه مغرب ته حصار او ورسره جنوب مشرق ته هانسي ده. دواړه د دهلي نه شمال مغرب ته دي.

۳. په راجستهان کښې دے . . . د دهلي نه جنوب مشرق ته واقع دے. اجمير (راجستهان) تړې جنوب مشرق او ميرتهه (راجستهان) تړې جنوب څخو مغرب ته دے. (وګوره روډ ميپ آو انډيا ۱۹۲۸ء)

۴. دهلي ته ډيره نزدې جنوب رويه پرته ده. او دغې قصبې ته ګور ګاؤن جنوب مشرق ته هم دغه شان نزدې پروت دے. (روډ ميپ آو انډيا.)

۵. د دهلي د قطب منار په خوا کښې (نيم ميل تړې لرې) يو کلے. ن ح ص ۱۳۴ حاشيه ۳.

۶ سنبهل د دهلي مشرق ته څخو جنوباً. د مراد آباد په ضلع کښې د مراد آباد د ښار نه جنوب ته څخو غرباً، سنبهل او مراد آباد دواړه د روهيلکهنډ په علاقه کښې واقع دي.

۶ الف. ن ز ۲/۵۴ و ن ح جلد ۱ ص ۱۳۴ "ولايت سنبهل تا گز رخواجه خضر که متصل دهلی است."

۷. وګورئ ص ۴۶ نوټ ۳.

۸. فرشته جلد ۱ ص ۱۷۲ "ترک بچه" او وګورئ ن ح جلد ۱ ص ۱۳۴ حاشيه ۴ "طبقات اکبري ص ۲۹۷ و مآثر رحيمي ص ۴۳۶ و تاريخ فرشته جلد اول ص ۳۱۴ عيسي خان تر کبچه".

۹. ريپري يا راپري. د يو پي د مين پوري ضلع د شکوه آباد تحصيل يو کلے دے. چې د جمنا سيند په غاړه او د مين پوري ښار نه ۴۴ ميله جنوب مغرب ته واقع دے. (ن ح جلد ۱ ص ۱۳۵ حاشيه ۲) د مين پوري ښار د اګرې نه شمال مشرق او دهلي نه جنوب مغرب ته دے. (روډ ميپ آو انډيا.)

۱۰ چندواړه: د دې نوم يوه ضلع او پکښې هم د دغه نوم ښاريه د هندوستان صوبه جات متوسط کښې هم شته. او بيا هم د صوبه جات متوسط په ضلع او تحصيل نرسنګهه پور کښې يوه بله قصبه د چندواړه په نوم هم شته. (امپيريل ګزټيير) خو دلته تړې دغه ځايونه نهٔ شي مراد کيدے. دلته ياد شوے چندواړه يا چندواړ غالباً چې هغه ځائے دے چې ورروستو په ~~فيروز~~ فيروز آباد نامه کيښوې شوه. (مختصر کيمبرج تاريخ هند دي شارټر کيمبرج هسټري آو انډيا ص ۲۰۰) نو اوس فيروز آباد د امپيريل ګزيټيير له رويه د اګرې د ضلعې يو تحصيل دے او د دغه تحصيل د صدر مقام نوم دے چې د اګرې مين پوري په سړک پروت دے. او لکه چې ن ح جلد ۱ ص ۱۵۶ حاشيه ۱ وائي دغه ځائے يعني زوړ کلے د جمنا په غاړه د

اکرې په ضلع کښې د فیروز آباد نه درې میله جنوب مغرب ته دے.

۱۱ د اکرې نه جنوب مشرق ته په یو پې کښې یو ښار او هم د دغه نوم د ضلعې صدر مقام.

۱۲ بهو ګاون هم د یو پې د مین پورې ضلعې د یوهٔ تحصیل او قصبې نوم دے. (امپیریل ګزټیر) د بهو ګاؤن کلے د مین پورې ښار نه لس میله شمال مشرق ته پروت دے. (ن ح جلد ۱ ص ۱۳۵ حاشیه ۳)

۱۳ پخوا د اکرې د صوبې د قنوج سرکار یو څائے چې اوس د یو پې د فرخ آباد ضلع د قائم ګنج تحصیل یو وران کلے دے چې فتح ګړه نه ۲۸ میله شمال مغرب ته پروت دے. (ن ح ص ۱۳۵ حاشیه ۴)

۱۴ د یو پې د ایټې ضلع په علي ګنج تحصیل کښې له ایټه ښاره ۲۲ میله شمال ته یو مقام. (منتخب التواریخ انګریزي ترجمه جلد ۱ حاشیه ۱۸۵) چې د امیر خسرو مولد یادیږي د ایټې ښار د مین پورې له ښاره (چې له اکرې شمال مشرق ته دے) شمالاً پروت دے د علي ګړه نه (چې د دهلي نه جنوب مشرق ته دے) جنوب مشرق ته پروت دے.

۱۵ بیانه د اکرې څهٔ ډیره لږه جنوب مغرب ته پرته ده. او وګورئ ن ح جلد ۱ ص ۱۳۵ حاشیه ۵ چې له رویه ئې بیانه له اکرې د ۵۰ میلو په فاصله د بهرت پور په ریاست کښې واقع ده. او یو وخت لکه چې ابوالفضل لیکي لوے ښار وهٔ. او اکره ئې له توابعو وه. د بهرت پور ښار د اکرې نه مغرب څخو شمال ته پروت دے. (وګورئ روډ میپ آو انډیا ۱۹۲۸ ء)

۱۶ مشهور تاریخي ځاے او علاقه د اکرې په جنوب کښې. په پیرنګواله کښې د مرهټه ؤ له ریاستونو وه.

۱۷ د ګوالیار شمال او د اکرې جنوب ته (او اکرې ته زیات نزدې) یو ښار او ریاست. د دهول پور علاقه د اکرې د ضلعې نه سهیل لویدیز ته ده. د ګوالیار د ریاست د لویې برخې نه په مجموعي حیثیت قطب لویدیز ته. د دهولپور صدر مقام د اکرې او ګوالیر ښارونو تر مینځه له وړومبیه سهیل او له دویمه قطب ته دے.

۱۸ غالباً د بهدوریه راجپوتو علاقه ترې مراد ده. بهدوریه راجپوت د باه (چې پناهټ هم ورته وائي) په تحصیل (د اکرې نه جنوب مشرق) کښې او د اکرې په جنوب کښې د ګوالیار په بهنډ نومې ضلع کښې اباد دي. د بهنډ په ضلع کښې بهنډ بهداور نومے ښار د دوي یو مرکز وهٔ. د باه د تحصیل باه نومې قصبه اکرې ته نزدې ترې جنوب مشرق ته واقع ده. لکه چې وونیل شول تحصیل په مجموعي حیثیت هم د ضلع اکره په جنوب مشرق کښې دے. بهنډ د ګوالیار شمال مشرقي ضلع ده چې شمالي ګټ ئې د باه جنوب مشرقي برخې سره

لګيږي. بهدوريه د چوهان راجپوتو يوه څانګه ده (امپيريل ګزټيير جلدونه ٦ ص ١٩٣، ١٩۴ و ٨ ص ٢١ او نقشې يعني جلد ٢٦ نقشه ٣١ او د هندوستان د صوبو او ضلعو نقشه ١٩١۵ء) د منتخب التواريخ د انګريزي ترجمې جلد ١ ص ۴٠٨ د حاشيې له رويه ابوالفضل بهداور د اګرې په جنوب مشرق کښې يوه ضلع ياده کړې ده. او هتکانت ئې پکښې له ټولو لوی ښار ښللے دے.

١٩ د وسطي هند په مشهوره او تاريخي علاقه مالوه کښې د اجين نه جنوب مغرب ته. مالوه او ګجرات سره پيوستې علاقې دي. مالوه د نربدا سيند قطب ته د ګجرات نه نمرخاتهٔ او قطب ته ده. د مالوې بيشتره حصه هم د نربدا قطب ته ده. خو ډيره لږه حصه ئې د خانديس قطب او د نربدا جنوب ته هم ده. خانديس د تاپتي سيند قطب ته دے و ګورئ د ټوئنبي او مائزر تاريخي اټلس ص ۴۵ و نقشه ۵٢ او ۵٢ الف ص ١٦٨ - ١٦٩) د اجين او مانډو نه علاوه د دې علاقې په نورو مشهورو او تاريخي ځايونو کښې يو ډهار دے چې د پرمار راجګانو په دور کښې د هغوي پايهٔ تخت وۀ ډهار د اجين او مانډو ترمينځه له ورومبيه سهيل څۀ لويديز او له وروستيه قطب څۀ لږ لويديز ته دے.

١٩ الف. په دغو مختلفو علاقو د تصرف په حقله ذکر زمونږ پښتو او فارسي نسخو کښې څخو بيلتون لري. فارسي عبارت داسې دے: ''لوديان رااستيلائے تمام دست داد، احمد خان ميواتی ازمہرولی تالا دوسرائے کہ متصل دہلی است متصرف بود ولوديان ولايت سرہند ولاہور وسامانہ وسنام وحصار (فيروزہ) را تا پانی پت داشتند ودريا خان ولايت سنبھل ((را)) تا گز رخواجہ خضر کہ متصل دہلی است متصرف وحاکم بود۔ ورائے پرتاب ((بر)) قصبہ بھوگاؤں وپٹیالی دکمپلہ متصرف بود وبيانہ درقبض داؤد خان اوحدی (بود) وسلطان علاؤ الدين شہر دہلی باچند مواضع داشت وبہ اين ولايت بادشاہی ميکرد ودر گجرات ودکن ومالوہ وجونپور وبنگالہ ہر کیے بادشاہے بہ استقلال شد۔'' ن ز ٢/۵۴ و ن ح جلد ١ ص ١٣۵، ١٣٦)

د عبارت څۀ لږ ډير بيلتون نه علاوه د ځايونو او علاقو کمے بيشے هم شته. فارسي عبارت کښې هانسي، ناګور، لوني، چندواړه (ياچندواړ) اټاوه، ګوالير، دهولپور، بهداور، مانډو او بهار نشته. پښتو عبارت کښې سامانه، ګزر خواجه خضر، دکن او بنګاله نشته. په پښتو کښې حصار او فارسي ن ح کښې حصار فيروزه دے.

حصار فيروزه: د ن ح فاضل محشي د امپيريل ګزټيير او تاريخ فيروزشاهي عفيف په حواله ليکي چې حصار فيروزه پنجاب کښې دے چې فيروز تغلق په ١٣۵۴ ء کښې د نهر جمنا د مغربي ساحل د دهلي له روده د يو سل دوۀ ميلو په مزل آباد کړے وۀ. (جلد ١ ص ١٣٣ حاشيه ۴) د مشرقي پنجاب د حصار ضلعې او تحصيل صدر مقام حصار قصبه هم دغه ځائے دے. (لودي سلطانز ص ١١ حاشيه ٢)

سامانه: د پانې پت نه شمال خوا لږه مشرق ته او د سرهند نه جنوب ته او ورته زیاته نزدې پرته ده. له دیو ټولو ځایونو دهلي سهیل دے.

گـزر خواجه خضر: د پښتو او فارسي عبارت چې مقابله وشي نو معلومیږي چې گزر خواجه خضر د پښتو عبارت د "لوني" بدل دے او بیا د ډاکټر پانډے ارلي میډیول انډیا ص ۳۵۹ وګورئ. "تیمور دهلي ته په رسیدو لوني ونیوه" لکه چې فارسي عبارت کښې گزر خواجه خضر نو لوني هم دهلي ته (د ډاکټر پانډے له کتابه د اقتباس له رویه) جخته ده او سکه د یوه ځائے دوه نومونه دي.

گجرات: وګورئ نوټ ۱۹ مغرب ته ئې کاټهیاواړ علاقه او بحر، جنوب ته ئې هم بحر او شمال ته سیند او راجستهان. پخوا کاټهیاواړ او د گجرات مشرق ته د بړوده علاقه د گجرات د راج برخې وې. مشهور مقامات ئې انهلواړه (پټن) جونا گړه، سومنات (د سابق جونا گړه ریاست په حدودو کښې) احمد آباد او دمن او دیو ئې بندرگاهونه دي.

بهار: د یو پي جنوب مشرق او د بنگال مغرب ته د دواړو ترمینځه مشهوره صوبه چې پټنا ئې صدر مقام دے.

جونپور: د مشرقي یو پي مشهور ښار چې د سلاطین شرقي پایهٔ تخت او د علم او فضل او ثقافت مرکز پاتې شوے دے. شیر شاه سوري لکه چې تاسو به په مخ ولولئ هم دلته علم حاصل کړے وو. دا وخت د بحث لاندې زمانه کښې سلطان محمود شرقي د جونپور او ملحقاتو ئې بادشاه وو.

۲۰. ن ح جلد ۱ ص ۱۳۷ حاشیه ۱ په حواله د طبقات اکبري "برهان آباد قریب بارهره" په حواله مآثر رحیمي "قریب باهیره" او د یوې بلې نسخې په حواله "قریب بامرونه" دغه ځائے چې برهان آباد ورته نزدې یاد شوے دے کهٔ مارهره وي نو مارهره د یو پي (اګرې برخې) د ایټے ضلع د ایټے تحصیل مشهوره قصبه ده چې مسلمانان پکښې ګڼ او ډیر با اثر وو. (امپیریل ګزټیر جلد ۷ ص ۲۰۴، ۲۰۵)

۲۱. د اګرې نه شمال مشرق د بریلي نه جنوب مغرب ته او ورته مقابلتاً زیات نزدې د یو پي د روهیلکنډ قسمت (اګره برخه کښې) ضلع او مشهور ښار. بداؤن یا بدایون. پ پیرنګواله کښې روهیلکنډ په شپږو ضلعو (یو ډویژن یا قسمت یعني ویش) بریلي، مرادآباد بجنور، بدایون، پیلي هیت او شاهجهان پور مشتمل وو. او د بریلي ضلعي صدر مقام بریلي ښار د ډویژن هم صدر مقام وو. روهیله ریاست رامپور هم د دې ډویژن په حدودو کښې ګډ وو. خو په مغلواله کښې د روهیلکنډ وسعت ډیر زیات وو. مثلاً د بلند شهر او مراد آباد

ضلعو باره بستي علاقه چې د روهیله ؤ لویه او مشهوره او تاریخي علاقه وه د دې یوه اهمه حصه ئې سره د ټولې بلند شهر ضلعې میرټه ،ویژن کښې راوستله. او د بلند شهر په بلند شهر او انوپ شهر تحصیلونو کښې ئې وویشله. دعسې د بلند شهر د ضلعې خورجه نومې تحصیل کښې هم د خورجې ښهر خاص طور سره د خویشکو او خلیلو مرکز وؤ. نواب بهادر خان روهیله او نواب دلیر خان روهیله چې ئه مخ ئې مفصل ذکر راتلونکے دے هم د باره بستی وو د پانې پت د دریم جنګ په وخت . پانې پت میدان ته د جنګ دپاره د تلو نه وړومبے د احمد شاه بابا کیمپ هم په انوپ شهر کښې وؤ. د دغو علاقو نه علاوه د هر دوئي او فرخ آباد او علي ګړه په ضلعو کښې هم ډیر روهیله آباد وو لکه د بلند شهر د ضلعې دغه درې واړه ضلعې هم د پیرنګوالې رروهیلکنډ ویش سره پیوستې دي.

ص ۵۰

ن ز ۱/۵۶ ن ح جلد ۱ ص ۱۳۹ "کلاه و طاقیه" "طاقي هم یو قسم ټوپی ده. تاقي ټوپی په پښتنو کښې هم لږه موده پخوا رواج لرلو

۲. ن ز ۱/۵۶ "چووه رامی لیسید ند وګلهارامی خوردند" ن ح جلد ۱ ص ۱۳۹ ((جونته)) را الخ" بر ښد قوسین د دې خبرې علامت دے چې دعه لفظ په تحشیه کیدونکے نسخه کښې نۀ وو خو محشي او مصحح له خانه علاوه کړ حاشیه ۲ کښې ئې د الف نسخې (د رضا لائبریری رامپور) او ب نسخې (د بانکي پور خدابخش لائبریری) په حواله "چووه" لیکلې ده. چووه صحیح لفظ دے چووه یو راز خوشبویه لینی ده چې صدف له بویه ښۀ پاک صاف کړي او بیا ئې روغ سره د غوښې د چندنو په تیلو کښې وخوټکوي او چې ښۀ سره ګډوډ شي نو په ځخولو (عمل تقطیر) ترې دغه لیتی تیاره کړي.

ارګجه یا ارګجه: یو خوشبویه مرکب دے چې له چندنو، ګلابو، کافورو، مښکو او عنبرو تیاریږي. (وګورئ غیاث اللغات "ارګجه")

ص ۵۱

اضافه مطابق د فارسي عبارت.

۲ فارسي عبارت خواجه بایزید.

۳. د نریله ښاندهي مؤرخ پخپله کړې ده. د ن ح فاضل محشي ئې (جلد ۱ ص ۱۴۵ حاشیه ۱) د دهلي نه شمال روبه ۱۷ میله ښيي.

۴. پښتو عبارت ناقص دے د لیندو ترمینځه عبارت د اصل فارسي په بنا زیات کړے شو.

۵. احمد خان میواني د طوائف الملوکي د دورې له سردارانو ځنې یو وؤ (وګورئ تیره ص

۴۹) میوات هغه علاقه ده چې تقریباً ټوله د پیرنګوالي په الور ریاست کښې راغلې ده. (مختصر کیمبرج تاریخ هند ص ۱۶۸) اګر کهٔ پروفیسر سري واستاوه (دي سلتینټ آو ډیلهي ص ۱۱۶) د میوات علاقه د دهلي سهیل ته یاده کړې ده خو سهیل لویدیز ته به ورته وئیل زیات موزون وي. اګر کهٔ الور کښې راجپوت هم شته او حکمران خاندان ئې د کچهواهه راجپوتو له نروکا (واؤ معروفه) څانګې دے........ خو میو چې غالباً میوات ورته منسوب دے له جاټانو څنې دي. دوي اکثر مسلمانان شوي او د خپلې میړانې او توریالتوب له قبله مشهور دي. د غلامانو باچهانو په وړومبی دوره کښې به دوي حکومت ډیر پریشانولو خو اخر بلبن په ډیر کلک اقدام په اطاعت مجبور کړل. په ۴۸-۱۹۴۷ء کښې ئې د هندوستان او پاکستان د ویش په وخت په فسادونو کښې ... د هندوانو په مقابله کښې د بې مثاله میړانې نمونې ښنیلے وے.

ص ۵۲

یعنې احمد خان ولګید خپل ترهٔ ئې د سلطان په رکاب کښې روان کړ. د ن ح جلد ۱ ص ۱۴۶ عبارت هم دغه شان دے. ''واحمد خان مبارک خان عم خودرا به خدمت دائی ((سلطان)) مقرر کرد'' د ن ز ص ۲/۵۸ عبارت داسې دے ''واحمد خان ومبارک خان عم خودرا به خدمت دائی مقرر کرد'' بلکې خصوصاً چې د "دائمي" نه پس "سلطان" نهٔ وي معنیٰ بالکل بدله شي. یعنې "او احمد خان او مبارک خان خپل ترهٔ ئې په دائمي خدمت مقرر کړهٔ." یعنې "په خپل خدمت ئې الخ". کهٔ د ن ح د عبارت نه ((سلطان)) لرې کړے شي نو بیا هم مطلب واضح دے. سلطان ورته پرګنې پرېښودے او احمد خان ولګید خپل ترهٔ ئې ورله په خدمت وټاکلو. کهٔ عبارت داسې وے نو بهتر به وهٔ. ''واګزاشت واحمد عم خود مبارک خان را الخ'' د ډورن د ترجمې مفهوم به په پښتو کښې داسې وي. "د احمد خان یوهٔ ترهٔ مبارک خان ئې هم اطاعت قبول کړ.

۲. د بلند شهر زوړ نوم دے. د بلند شهر ضلع او تحصیل مونږ په ص ۴۹ نوټ ۲۱ یاد کړي دي. بلند شهر د دې ضلعې او تحصیل د صدر مقام نوم هم دے. دغه مقام یعنې بلند شهر د کول یا علي ګړهـ میرټهـ او دهلي دریو واړو ته تقریباً یو شان نزدې او په مینځ کښې ئې پروت دے. له وړومبیه څایه قطب شخو لویدیز ته، له دویمه سهیل او له دریمه سهیل ختیز ته. برن (بَ رُن). ډورن حصه ۱ ص ۴۷ برون لیکلے دے ګوندې د هغهٔ په مخکښې نسخه کښې هم دغه شان وه د ن ح جلد ۱ حاشیه ۲ نه هم معلومیږي چې د مخزن افغاني په یوه نسخه کښې برون دے.

۳. سکیته (یا سکت): د یو پي په ایټه ضلع کښې چې ابو الفضل ئې په سرکار قنوج کښې

داخـل بیـانـوي (امپیـریـل گـزټیر). د ن ح فاضل محشي سکیته په ضلع اټاوه کښې له اټاوه ښاره دولس میـلـه لـرې سهیـل لویدیز ته بیانوي. (جلد ۱ ص ۱۴۶ حاشیه ۲) خو د منتخب التـواریخ انـګـریزي ترجمې جلد ۱ ص ۳۷۷ حاشیه ۴ له رویه د ریپړي (یا راپړي) او کنپیله مـابیـن په لویه لار له ایټه ښاره دولس میله ده په یو بې کښې اټاوه او ایټه دواړه ضلعې شته خو سکیته په ایټه کښې ده.

۴. د یـو پـي د فـرخ آبـاد ضـلـعې د قائم گنج تحصیل یوه قصبه چې د بډهي گنگا په سهیلي غـاړه پـرته ده او سلطان شـمس الدین التمش آباده کړې ده د فتح گړهـ نه قطب گړهـ نه قطب لویدیز رویه اټلس میله ده.

صـ ۵۳

سوال خوابه یعني پیغامونه. فارسي عبارت ''سلطان از ین سخن متاثر گشته الخ ـ''

پښتو نسـخې ''سینـسـي''، ''سـنـسـي'' ډورن جلد ۱ ص ۴۹ سرسیني. ن ح جلد ۱ ص ۱۵۰ سرستي. لکه چې له سیاقه هم معلومیږي دا ځائے د ریپړي (یا راپړي) چې ورومبے ئې په دغو نوټونو کښې ذکر راغلے دے او د مین پوري ضلعې په حدودو کښې دے خواؤشا دے. د ن ح فـاضـل مـحشـي (ص ۱۵۰ حـاشیه) وائي چې سرستي غالباً قدیم سرسي یا سرسا ده چې اوس سـرسـا گـنـج بـلل شي او راپړي (یا ریپړي) خواؤشا له مین پوري ۲۷ میله لرې دے. او ترې مزل تر شکوه آباده ۱۲ میله دے.

د سرسه نوم نور ځایونه هم شته مثلاً د حصار په تحصیل و ضلع کښې چې زوړ نوم ئې سـرسـتي وۀ (امپـیریل گزټیر جلد ۲۲ ص ۴۵) او سرستي ناراین سره یوه ندی یعني رود هم شته. (ص ۴۵ نوټ ۴) خو د نظر د لاندې نوم دغو ځایونو سره تړون لرونکے نۀ شي ليدے.

۳. اضـافـې د فـارسـي نسـخـو په بنا ن ز ص ۵۹/۱ او ن ح جلد ۱ ص ۱۵۰ ''برادرم حسن خـان''. ن ز ۵۹/۱ ''قـطـب خـان لـودي'' ن ح جـلـد ۱ ص ۱۵۰ ''قطب خان پسر اسلام خان لودي''.

۴. ن ب ''... و خپـلې نیا یه چې بي بي راجي وه خط و کیښ''. فارسي نسخه ''والده کلان'' یعني مشره مور، نیا. ډورن جلد ۱ ص ۴۹ ''مدر'' یعني مور. وړاندې ن ز ۶۰/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۱۵۳ ''...بي بي راجي آمد چون خاطر والده از محمد شاه دلگیر شده بود'' لـري. د ''والـده کـلان'' (نیـا) په ځائے دلتـه ''والـده'' (مـور) بیـانـوي. زمونږ پښتو نسخې دغه ځائے ن ۱ ص ۵۴ چې په مخ راتلونکې دے بې د رشتې لـه ذکره وائي چې بي بي راجي چې له محمد شاه د حسن خان په مرګ خفه وه.

ص ۵۴.

ن ز ۲/۵۹ و ن ح جلد ۱ ص ۱۵۱ ایضاً. ډورن جلد ۱ ص ۴۹ "د سلطان شه و جلال خان اجودهني" په ځائې "شه او جلال خان". اجودهن د اجودهني وسيدونکې . اجودهن او د مشرقي يو پي زوړ ښار اجوديا يا ايودهيا چې اوس ئې په محل وقوع فيض آباد پروت دې . (د جونپور نه قطب شخو لويديځ او د لکهنو نه خاتيز ته) او د جناب رام چندر جي او هغوي د پلار راجه د سرتهه پـايـهٔ تـخـت وهٔ يـو ځائې نهٔ دې . اجودهن د ملتان د ښار نه شمال مَشرق او د منټګمری (ساهيوال) په ضلع او تحصيل کښې د منټګمری ښار نه سهيل او د ريل ګاډي له سټيشنه ۲۹ ميله سهيل خاتيز ته پروت دې . او لوې او مشهور ولي الله حضرت فريد الدين شکر ګنج رحمة الله عليه دلته عمر تير کړې وهٔ. او روضه مبارکه ئې هم دلته وه. اوس اجودهن د پاک پټن (يعني پاک ګودر) په نامه بلل شي. دلته لهٔ پخوا د ستلج سيند ګودر وهٔ او د حضرت موصوف له نسبته ګودر او قصبه دواړه په دې نوې نامې مشهور شول. (امپيريل ګزټيير جلد ۱۹ ص ۳۳۲ و ۳۳۳)

۲، ۲ الف. فارسي نسخې ن ز ۲/۵۹ و ن ح جلد ۱ ص ۱۵۲ ''سلطان بهلول این خبر راشنیده فوجے بہ مقابلۂ ایشان تعین کرد'' له سياقه او سباقه د اوريدو نسبت هم محمد شاه ته لګه چې پښتو ترجمه کښې دي صحيح ښکاري.

۳. قنوج : يو پي کښې د فرخ آباد يا فتح ګړهه نه جنوب مشرق ته، د کانپور او جونپور نه شمال مغرب ته او لکهنو نه غرباً شمالاً زوړ او مشهور ښار دې . او د پاکستان او هندوستان تر ويشه پورې په برعظيم کښې لکه د لکهنو د عطرو دپاره ډير مشهور وهٔ. بلکې لکهنو ډير وروستو مشهور شوې وهٔ. اجمير مارواړ ته له ليږدې وړومبې د راټهور راجپوتو (ګهډوالو) مرکز وهٔ د سلطان شهاب الدين غوري د حملې په وخت جې چند ګهډوال يا راټهور د قنوج راجه وهٔ چې بنارس او اله آباد او بل خوا ئې د دهلي تر حدودو ملک وهٔ. د تارائن د دويم جنګ نه تقريباً دوه کاله پس چې سلطان بيا هندوستان ته راغې نو د راجه جې چند ملک ئې هم ونيو. جې چند بنه مقابله وکړه خو مات او قتل شو.

۴. پښتو نسخې څو توري وړومبې سلطان حسين، هورې ما حسين خان کړ.

۵. فارسي نسخې ن ز ۱/۶۰ ن ح جلد ۱ ص ۱۵۳ "ملک مبارک کنګ."

ص ۵۵

دا نامه بيلو بيلو نسخو او نورو کتابونو کښې هم چرې "برسنګهه ديو" او چرې "نرسنګهه ديو" راځي.

۲. د فارسي نسخو په بنا زما تصرف. مطلب قطب خان خوږے د حسین خان.

۳. د فارسي نسخو د عبارت "قطب خان پسر حسین خان ومبارز خان ورائے پرتاب/ برائے پرتاب اتفاق نمود۔ سلطان شرقی الخ" لـه رویه ما پښتو عبارت څهٔ خو بدل کړو اصل پښتو عبارت داسې وهٔ. "او قطب خان او لـه مبارز خان او لـه رائ پرتاب سره ئې اتفاق وکړ او له سلطان الخ." په بدل عبارت کښې قطب خان د حسین خان قطب خان پسر حسین خان.

۳ الف. الفاظ "په چندواړ کښې" اضافه مط ن ز ۱ ۶/ : ن ح جلد ۱ ص ۱۵۶

ص ۵۶

غالباً سیکهره چې د ضلع اټاوه شیر پور پرګنې کښې له دهلیه ۲۵ میله شرق رویه واقع دے. ن ح جلد ۱ ص ۱۵۷ حاشیه ۲ د کیمبرج هسټرې آو انډیا جلد ۳ ص ۲۳۲ په بنا "سیکهره است که در پرگنه شیر پور ضلع اتاوه به بست وپنج میل شرقی از دہلی واقع است۔" د دهلي نه جنوب مشرق د یو پي ضلع بلند شهر، علي ګړه او ایټه دي د ایټې جنوب څخو مشرق ته د مین پوري ضلع ده او جنوب شرقاً ئې د اټاوې ضلع، کهٔ سیکهره په اټاوه کښې وي کهٔ په ایټه کښې له دهلیه ئې صرف د ۲۵ میلو بیلتون له پوهې لرې دے.

۲. ن ز ۲/۶۱ ن ح جلد ۱ ص ۱۵۷ "مادر سلطان حسین بی بی راجی در اتاوه داعیٔ حق رالبیک اجابت گفت۔" یعنې د سلطان حسین مور بي بي راجي په اټاوه کښې حق ورسیده.

۳. ۸۸۳ هجري.

۴. د یو پي د بریلي او متهرې تر مینځه یوه مشهوره قصبه چې له اټاوې ۲۷ میله لرې د ګنګا سیند په غاړه آباده وه او سیند وړې ده. وګورئ ن ح جلد ۱ ص ۱۵۸ حاشیه ۱

۵. اضافه مط د فارسي نسخو.

۵ الف. یعنې د جمنا سیند په غاړه د کجه، کچه، یا کهیچه ګودر په خو وګورئ منتخب التواریخ اردو ترجمه ص ۲۰۱ "اور جمنا کے کنارے کچھ کی گھاٹ پر منزل کی۔" منتخب التواریخ (زما د وړاندې اردو ترجمه) کښې سن ۸۸۰ لیکلے دے چې صحیح نهٔ دے.

۶ "مشہور عالم قاضی سماء الدین جن کا خطاب قتلغ خان تھا۔" یعنې مشهور عالم قاضي سماء الدین چې خطاب ئې قتلغ خان وهٔ منتخب التواریخ اردو ترجمه ص ۲۰۲.

۷. ن ا و ن ب موافق. یعنې د هاتي د هودې نګران او نائب یا عهده دار. خو د فارسي نسخو د عبارت له رویه ګوندې دا تعبیر جواز ونهٔ لري. ن ز ۲/۶۲ او ن ح جلد ۱ ص ۱۶۰ "قتلغ خان وزیر که اعلم العلمائے وقت بود وادہو نائب عرض که امثال آن اسیر ودستگیر شدند۔" فرشته جلد ۱ ص ۱۷۷ "ملک بدهو نائب عرض" او هم ن ح جلد ۱ ص ۱۶۰ حشیه ۲. نو ملک بدهو یا اودهو نامه او

نائب عرض منصب یا عهده ده. ډورن جلد ۱ ص ۵۲ "اودهو او نور امرا".
۸. ن ز ۲/۶۲ و ن ح جلد ۱ ص ۱۶۰ "وملکه جهان که حرم محترم سلطان حسین بود" الخ. یعني ملکه جهان د سلطان حسین نمانځلې ارتینه الخ. ډورن جلد ۱ ص ۵۲ مط ن ح و ن ز.

ص ۵۷

دلته زمونږ ترجمه هم "ملکهٔ جهان".
ډورن جلد ۱ ص ۵۳ لوبهار. د ن ح فاضل محشي ص ۱۶۱ حاشیه ۵ تر ص ۱۶۲) د یو پي ډستېرکټ ګزټیر ۱۹۰۸ء جلد لسم (مین پوري ص ۱۵۴) په حواله لیکي چې دا جنګ په سونهار ضلع اټاوه کښې لـه سکیته قطب خانیز رؤیه شوی وۀ. (سکیته دپاره وګورئ زمونږ ص ۵۲ نوټ ۳.)
۲ الف. "سلطان .... لاړ". "سلطان بهلول قریب موضع دهو پامؤ نزول کرد" اضافه مط ن ز ۱/۶۳ و ن ح جلد ۱ ص ۱۶۲. دهوپامؤ چې چهبرامؤ ورته هم وائي د فرخ آباد په ضلع کښې دی. ن ح جلد ۱ ص ۱۶۲ حاشیه ۲.
۲ ب. ن ز ۱/۶۳ ن ح جلد ۱ ص ۱۶۲، "طائفه بهدوریه درارددوی اودست اندازی کردند"
(دبهدرویه دپاره وګورئ زمونږ ص ۴۹ نوټ ۱۸)
۳. د فرخ آباد او قنوج جنوب او د اله آباد شمال مغرب.
۴. ن ز ۲/۶۳ و ن ح جلد ۱ ص ۱۶۳ "دراتاوه متحصن شده" یعنې په اټاوه کښې محصور (قلعه بند) شول.
۵. ن ز ۲/۶۳ "رائی داد" و ن ح جلد ۱ ص ۱۶۳ و ډورن جلد ۱ ص ۵۳ "رائی داندو."
۶ مط ن ح جلد ۱ ص ۱۶۳ پښتو ترجمه "رائی کاله" ن ز ۲/۶۳ "رانکانوار" ډورن جلد ۱ ص ۵۳ "رانکا" فرشته جلد ۱ ص ۱۷۸ "راکانو" محل وقوع په عبارت کښې ښودلی شوی دی.
۷. ن ب "آب د جون په میان کښې وه." آب جون یعني جمنا سیند.
۸. د ن ح فاضل محشي ص ۱۶۴ حاشیه ۲) د امپیریل ګزټیر (د هنټر) جلد ۱ ص ۴۱۴ په بنا وضاحت کوي چې دا د شاه آباد نه ۲۷ میله د ضلعې مشهور بکسر نهٔ دی بلکې د کماؤن د ضلعې بکیسر ترې مراد دی چې له المورې نه ۲۷ میله د سرجو او ګومتي ګډون خائې شخه دی. دلته به دا یادګیرنه ضروري وي چې فاضل محشي د شاه آباد کومه ضلع چې مشهور بکسر په کښې واقع دی یاده کړې ده هغه د بهار په صوبه کښې ده. تر څو چې د کماؤن تعلق دی نو اګر کهٔ د ټوئنبي او مائزر په ګزټیر او اټلس ص ۴۰ د همالیه د غرونو د

پـایځ د غـونډو لوارګینی ضلع یاده شوې ده. خو کماؤن د یو پي صوبې انتهائي شمالي قسمت (ویـش) دے چې پکښې درې ضلعې دي ګړهوال، الموړه او نیني تال. ګړهوال انتهائي شمالي ضلع ده. په جنوب مشرق کښې الموړه او د دې په جنوب کښې نیني تال ده. دغو ضلعو سره روهیلکنډ ویش جنوباً شرقاً لګیدلے دے. (امپیریل ګزټیر ۱۹۰۸ ء جلد ۱٦ ص ۱۸، ۱۹ او د هـنـد د صـوبـو او اضلاعو نقشه ۱۹۱۵ ء) لیکن د زیر نظر بکسر (یا بکیسر لکه چې د ن ح فاضل محشي ئې ګڼي) محل وقوع لکه چې د بهار د صوبې شاه آباد ضلع کښې تاکل صحیح نـهٔ شـي لیـدے نو هم دغسې د سیاق و سباق له رویه د جونپور او کالپی (چې رائے ګاؤن ئې له تـوابـعـو یـاد شـوے دے) ذکـر او ورسـره تـړلـو واقـعاتو سره سم یاد شوے بکسر له کالپی او جـونـپـوره بـلا لـرې د تورو غرونو په مزل د الموړې ضلعې د الموړې ښار په خواؤ شا ګنل هم مـحـل نـظـر دي. لـکـه چـې مـونږ ولوست عبارت داسې دے: "په موضع د رائے کانو توابع د کـالپـی مـقـابل شول اما اوبهٔ د جون په میان کښې وے. په دا میان کښې رائے تلوک چند چې حاکم د ولایت بکسر الخ." نو اوس باید چې د بکسر محل وقوع د رائے ګاؤن، کالپی او آب جـون (جـمنا سیند) خواؤشا چرې ولټوؤ. د جونپور نه مغرب ته کالپی د جمنا په جنوبي غاړه ورته نزدې پرته ده. او جونپور ته په مقابله د الموړې وغیره ؤ ډیره نزدې هم ده. اګر کهٔ هسې فـاصـلـه کـافي ده د کـالپی شمال مغرب ته د یو پي اناؤ نومې ضلع ده چې شمال ته ورسره د لکهـنو او جنوب ته ورسره د کانپور ضلعې لګیدلي دي. د اناؤ د ضلعې هم د دې نوم د قصبې نـه ۳۴ مـیـلـه جـنـوب مـشـرق تـه د ګـنـګـا پـه کینه غاړه بکسر نومے یو ځائے شته (وګورئ د هـنـدوسـتـان د صوبو او ضلعو نقشه ۱۹۱۵ ء او منتخب التواریخ انګریزي ترجمې جلد ۱ ص ۴۰۸ حـاشیه) دغه ځائے د ضلع اناؤ د تروا تحصیل ډونډیه کهیره پرګنه کښې واقع او د اناؤ د قصبې نه ۳۲ میله جنوباً شرقاً واقع دے. (دي لودهي سلټانز ص ۴۳ حاشیه ۱)

صـ ۵۸

مط ن ح جلد ۱ ص ۱٦۴. زمونږ پښتو نسخې "بیتنے . ن ز ۱/٦۴ "پټنه" وګورئ ن ح چې له رویه ئې په مختلفو آثارو کښې پتنه، بهته، تهته، او چا بهته او چا پنه ګڼلې ده. او په دې بـاب د ن ح فـاضـل مـحشي په ځائے وائي چې پنه په بندیلکنډ کښې ده. او د لرغونی بهټه یا بهـانـګـوار یـا بـاګیلکنډ اوسنے نوم ریوه دے. (جلد ۱ ص ۱٦۴ حاشیه ۳) دلته پټنه د بهار د صـوبـې مشهور ښار او صدر مقام او د سند ټهټهه وغیره له بحثه خارج دي. د ریوه ریاست په وسطي هند کښې د یو پي د اله آباد ضلعې په جنوب کښې واقع دے. شمال مشرقي حصه ئې د یـو پـي مـرزا پـور ضـلعې سره او شمال مغربي ضلع ئې د یو پي بانده ضلعې سره لګیږي. د

وسطي هند د سر ګجه رياست ني شرقاً د يادې شوې مرزا پور ضلعې په جنوب کښې دے . د وسطي هند د پنې رياست د ريوے مغرب ته دے . تر مينځه ني د وسطي هند يو څو نور ډير واړهٔ رياستونه ميهر (مئ هر) او نګوډ وغيره دي. د پنه صدر مقام پنه د ريوه د صدر مقام نه مغرب څهٔ لږ ډير شمال ته دے . د دواړو تر مينځه واقعه نګوډ (د نګوډ صدر مقام) نه شمال ته تللي سرک باندې مشهور تاريخي ښار کالنجر د نګوډ نه شمال ريوه نه شمال مغرب او پنه نه شمال مشرق ته واقع دے (د هندوستان د صوبو او ضلعو نقشه ۱۹۱۵ ء او ورډ ميپ آو انډيا ۱۹۲۸ ء)

د يو پي بهرائج يا بهړائچ ښار په يو پي کښې د فيض آباد (ايودهيا يا اجودهيا) ښار نه شمالاً قدرې غرباً. لکهنو ښار نه شمالاً قدرې شرقاً، د بهړائچ ضلعې شمالي بريد د نيپال حدود سره لګيږي او جنوبي حد ئي د لکهنو ضلعې د شمال مشرق رويه ضلعې باره بانکي سره.

۳ رام ګنګا يا چهوټي ګنګا (وړه ګنګا) نومے سيند ته به ئي پخوا راهت يا راهب هم وئيل .ن ح جلد ۱ ص ۱۶۵ حاشيه ۱ فاضل محشي دا هم ليکي چې د دهلي د بادشاهانو په زمانه کښې به ئې د رام ګنګا بربي او کنبيبي دواړو برخو ته له خپله وتون خايه (چې کماؤن کښې دے) تر ګنګا سره ګډون خايه لورې راهت يا رهب وے او د امپيريل ګزئټير جلد ۲۱ ص ۱۷۵ دا بيان محل نظر دے چې صرف د رام ګنګا بالائي (برنی) برخې ته به ئې پخوا روهت وئيل. (حاشيه ايضاً) رام ګنګا چې في الواقع هم له کماؤن راغلې ده په يو پي کښې خان له ډير مزل کولو نه پس فرخ آباد ضلعې د فتح ګړه ښار نه په لږه فاصله جنوب مشرق ګنګا سره يو ځائے شي. (وګورئ روډ ميپ آو انډيا ۱۹۲۸ ء).

۴. **منجهولي يا مجهولي** په دې نوم ډير ځايونه دي خو د زير نظر ځائے نه مراد سليم پور مجهولي ده چې د ګور کهپور ضلعې (شمال مشرقي يوپي) په ريوريه تحصيل کښې ده. مجهولي د ګندک نومے رود دوه لوريه آباده ده. قطبي حصه کښې د برعظيم تر تقسيم د هندوانو آبادي وه او سهيلي برخه کښې چې سليم پور بلل شوه مسلمانان آباد وو. (ن ح جلد ۱ ص ۱۶۲ حاشيه ۱) او هم منتخب التواريخ انګريزي ترجمه جلد ۱ حاشيه ص ۴۰۹).

۵. دا نوم په مختلفو نسخو کښې چرته بازيک شاه او چرته باربک شاه راځي. ب او ک يعني باربک شاه صحيح دے .

۶ اضافه مط ن ز ۲/۶۴ و ن ح جلد ۱ ص ۱۶۲ اسلام خان او فيروز خان د سلطان بهلول

ترونه یاد شوي دي.

۷. اضافه مط ن ز ۲/۶۴ و ن ح جلد ۱ ص ۱۶۷. فاضل محشي (حاشیه ۱) د منتخب التواریخ په عبارت جلد ۱ ص ۳۱۲ (انګریزي ترجمه جلد ۱ ص ۴۰۹ چې هم فاضل محشي ئې حواله ور کړي ده. ''اعظم همایون برادرزاده دیگر که خواجه بایزید نام داشت۔'' اعتراض کوي او وائي چې صحیح هم هغه دي چې څهٔ دلته د فرشته او طبقات اکبري په بنا ولیکل شول. فرشته جلد ۱ ص ۱۷۸ (زما د ورانـدي ایډیشن) د فاضل محشي تائید کوي ''بکابلآ رفت وآن رانیز متصرف شده بنیرهٔ خود اعظم خواجه همایون بن خواجه بایزید را عنایت کرد۔''

۸. د دهولپور (د اګرې ضلعې سهیل خاتیز ته) په ریاست کښې. وګورئ زمونږ ص ۴۹ نوټ ۱۷

۹۹ الف. فرشته ص ۱۰۸ ''اله پور'' ډورن حصه ۱ ص ۴۵ ایضاً (الها پور) او وګورئ ن ح جلد ۱ ص ۱۶۷ حاشیه ۳ مختلفې نسخې او نور کتابونه ''اله آباد''، ''الها پور''، ''پالنپور''، ''الهنپور''. وائي چې الا پور د ګوالیار د ریاست یوه قصبه ده مورینه ته نزدې د جورا قلعه نه یو میل د اکبر باچا په زمانه کښې د سرکار بیانه یو محال وهٔ. (په حوالهٔ د آئین اکبري د جیرټ جلد ۲ ص ۲۷۴) په هر حال خواجه نعمت الله (کیدے شي چې د هغهٔ په وخت هم دغسې وي) الا پور د رنتنبور له توابعو بنيي. رنتنبور (ډورن حصه ۱ ص ۵۴ رانتي پور (یا رنتي پور) مشهور او تاریخي مقام دے. (اصل ئې رن استهمبها پوره یعنې د جنګ د ستنې ښار یا مقام) دا یو غرنیز (کوهي) کوټ دے چې د ګوالیار په لویدیز کښې څنګو سهیل ته د اګرې او چتوړ تر مینځه (له اولنې خایه سهیل لویدیز ته او له وروستي قطب خاتیز ته) د جے پور ریاست په سوائي مادهوپور نظامت کښې واقع دے. دغه نظامت د جیپور ریاست سهیل خاتیز ګټ کښې دے. (وګورئ د لیکونکي کتاب ''خوشحال خان خټک'' (اردو ص ۹۸) خوشحال بابا د خپل بند نیمې نه زیاته زمانه هم دغې کوټې بندي خانه کښې تیره کړې وه. نو دغسې دا کوټ د تاریخي حیثیت نه علاوه ادبي اهمیت هم لرې خکه چې د بابا ډیرې شهپارې دلته زیږیدلې وے لکه:

ننګیالے قبلوي ګور
ګور خو نهٔ دے رنتنبور
پښتنې جونه دې زلفې باد ته نیسي
چې شمال ئې بوئ راوړي په رنتنبور کښې

مط ن ز ۱/۶۵ و ن ح جلد ۱ ص ۱۲۸ پښتو نسخې ''سنګت سنګهـ'' فرشته جلد

۱ "سکیت سنګهـ"

پښتو نسخې "رائے مدور". ن ز ۶۵/۱ ن ح جلد ۱ ص ۱۶۸ "رائے داندر" ډورن جلد ۱ ص ۵۴ ایضاً وګوری زمونږ ص ۵۷ نوټ ۵.

۱۲ فارسي "مراجعت به دهلی نمود" نـو د الفاظو او بیا سیاق و سباق له رویه ترجمه داسې پکار وه "دهلي ته وجاروت". ځکه چې دهلي ته ژوندے ونهٔ رسید.

۱۳. مـط ن ز ۶۵/۱ و ن ح جلـد ۱ ص ۱۶۸. پښتـو نسخې، پروفیسر سري اوستاوا دي سلټنټ آؤ ډیلهي ص ۲۶۵) او ډاکټر پانډے (ارلي میډیول انډیا ص ۴۰۵) "جلالي". فرشته جلـد ۱ ص ۱۷۸ "بهـداولي" ډورن حصه ۱ ص ۵۴ هم جلالي خو په متعلق نوټ کښې (ص ۹۵ پـه تسلسـل د دویـمې حصې د صفحو) د یوې بلې نسخې په بنا ملا والي یا ملا ولي. ملا والـي یـا مـلا ولـي (لـکـه چـې انګریزي هجه هر رنګ لوستے شي) او خپله رائ ظاهروي چې مـلاولي د ناقل غلطي ده. باید چې یا خو جلالي ولولو یا بداولي لکه چې فرشته لیکي ملاولي لـکـه د سـکیته د ایټه ضلع کښې ده. د ن ح فاضل محشي (جلد ۱ ص ۱۶۸ حاشیه ۲) د ځنو حـوالـو نه پس لیکي چې معلومیږي چې دا کلے یا ملاون دے چې اټاوه ته نزدې پروت دے. یا مـلاولـي چـې د اټـاوه او پـټـیـالـي تـرمینـځه له سکیته پینځلس میله لرې دے. فاضل ستائیلي مـحشـي لـکـه د وړومبـي (مثلاً وګورئ زمونږ ص ۵۲ نوټ ۳) بیا د ایټه په ځائے اټاوه لیکي. دلتـه وړومبے د اټـاوې ذکـر دې ځـهٔ شبـه نـهٔ پیدا کوي ځکه چې سلطان له اټاوې جاروتو او دهـلـي وتـه تـلـو نـو د موجوده مین پوري او ایټې ضلعو نه تیریدو. (وګورئ زمونږ ص ۵۶ نوټ ۱) د منتخب التواریخ انګریزي ترجمې د ص ۳۷۷ د څلورمې حاشیې له رویه سلطان په سـکیته کښې وفات شوے وهٔ...... "دي لودي سلټانز" د بهلول وفات په ملاولي کښې بیانوي (ص ۴۹) او مـلا ولـي د ایـټه په ضلع کښې له سکیته ۱۵ میله شمالاً په ایټه علي ګنج سړک بنیـي (حاشیه ۲) هم د دې نوټ په تسلسل کښې زمونږ ص ۵۹ نوټ ۲ الف راتلونکے اخري پیراګراف هم ولولئ.

۱۴. اضافه د فارسي نسخو په بنا "نزدیک موضع ملاولی از اعمال قصبه سکیت" الخ.

صـ ۵۹

پښتـو ربـاعـي د فـارسـی تـرجـمه نهٔ ده. د قوسین ترمینځه عبارت د فارسي نسخو په بنا عـلاوه شـو. فـرشتـه جـلـد ۱ ص ۱۷۹ "....هـفـت روز" پـه ځـائے د هشت (الف). په منتخب التواریخ جلد ۱ اردو ترجمه کښې ص ۲۰۵ او فرشته کښې پوره قطع داسې درج ده.

به هشت صد و نود و چار رفت از عالم　　　　خدیو ملک ستان و جهان ستان بهلول

به تیغ ملک ستان بود لیک دفع اجل بود محال به شمشیر و خنجر مصقول

"هشت صد و نود و چار" ۸۹۴ هجري (۸۹-۱۴۸۸ ء) پروفیسر سري واستوا (ص ۲۶۵) د گواليار نه د واپسی په دوران په جولائي ۱۴۸۹ ء کښې ليکي کال ۸۹۴ هجري په ۵ دسمبر ۱۴۸۸ ء شروع شوے وۀ نو ښکاره ده چې ورپسې د جولائي مياشت به هم په ۱۴۸۹ ء کښې راځي. فرشته د مرحوم سلطان اوصاف داسې ! نوي:

''بادشاه بهلول لودی بصلاح آراسته و به متابعت شریعت محمدی ﷺ پیراسته بود و در حضر و سفر با علماء و مشائخ صحبت داشتے و اکثر اوقات به ایشان بسر بردے و با روسائے افغان برادرانه سلوک کردے و در حضور آنها بر تخت نه نشسته بر یک بساط تقاعد نمودے۔ وقتیکه دهلی را گرفت خزانه بادشاهان ماضیه را بر افغانان لودی قسمت کرده خود نیز همچو سائر الناس قسمت برادرانه گرفت۔ و طعام در خانه خود نه خوردے و بر اسپان طویله خاصه سوار نه شدے۔ و هر روز از خانه یکے از امرا آورده تناول نمودے و هنگام رکوب بر اسپ ایشان سوار گشتے و گفتے مرا از بادشاهی همین نام کافی است۔'' یعنې بهلول لودي باچا په نيکۍ کښلے او د شريعت محمدي ﷺ په پيروی پسوللے وۀ او کۀ په ځائے کۀ په مزل عالمانو او شيخانو سره به ئې کښون وۀ او خپل زيات وخت به ئې له هغوي تيرولو. او پښتنو مشرانو سره ئې د وروروولی روزگار کاوۀ. د هغو په مخکښې به په تخت نۀ کښيناستو او په يوۀ فرش به ورسره ناست وۀ. چې دهلي ئې واخست نو د لرغونو باچهانو خزانه ئې په لوديو پښتنو وويشله او پخپله ئې هم لکه د گرد وگړي د وروروولی برخه واخستله. او ډوډی به ئې کور نۀ خوړله او د باچهي طويلې په اسونو به نۀ سوريدو هره ورځ چې به د چا امير له کوره ډوډی راغله خوړه به ئې او د سورلی په وخت به هم له هغو د چا په اس سور شو او وئيل به ئې له باچهی ما لره دا نوم بس دے....

دغسې پروفيسر سريوواستاوا (دي سلطنت آو ډيلهي ص ۲۶۵ و ۲۶۶) د سلطان د فوځې قابليت او مړانې، سخاوت، فياضی او د هغۀ د ذهانت، هوښيارتيا او حقيقت پسندی خپلو ملگرو سره د برابری د سلوک او ورسره د رواداری او سره د خپل کم ليک لوست د علم دوستی او نازک جنس سره د شريفانه سلوک ډيره ستائنه کړې ده.

او يو بل معاصر مؤرخ ډاکټر پانډے (ارلي ميډيول انډيا ص ۴۰۴ او ۴۰۵) د دغسې ستائنې کولو نه پس وائي "بهلول د نسلي او فرقه وارانه تعصب نه هم آزاد وۀ نو ځان لره ئې د راجه کرن، راجه پرتاب، راجه وير سنگهه، راجه تلوک چند، او راجه دهندهو غونډې سرو خدمات حاصل کړے شول."

راجه وير سنگهه غالباً چې هم هغه سړے دے چې به تيرو پاڼو کښې نر سنگهه او بر سنگهه ياد شوے دے. د راجه تلوک چند او راجه دهندهو (يا داندو) وغيره ذکر هم زمونږ په تيرو پاڼو کښې راغلے دے.

۲. ن ب "اووم". ډورن حصه ۱ ص ۵۵ ایضاً (سیونتهـ). جمعه ۱۷ شعبان ۸۹۴ هجري به د ۱۸ جولائي ۱۴۸۹ ء مطابق وي.

۲ الف. د ن ز ۶۵/۱ او ن ح جلد ۱ ص ۱۶۹ـ۱۷۰ صوف دا وائي : ''چون سلطان بهلول این عالم را پدرود کرد شاهزاده نظام خان در دهلی بود۔ این خبر را شنیده به سرعت تمام خود را به قصبهٔ جلالی که لشکر سلطان بهلول آنجا بود برسانید۔'' یعنې سلطان بهلول دا نړۍ پرېښوده شهزاده نظام خان په دهلي کښې وه. د دې خبر په اورېدو ئې خان په ډېره تادی جلالي قصبې ته چې د سلطان لښکر هورې وه ورساوه. د ډورن حصه ۱ ص ۵۵ ترجمه پښتو ترجمې سره سمون خوري. خو د نظام خان د تعلیم حاصلولو ذکر نهٔ کوي. او د مور نوم ئې صرف بي بي لیکي. د ن ح فاضل محشي (جلد ۱ ص ۱۶۹ حاشیه ۲) د "مرات آفتاب نما" په حواله لیکي : ''مادر سکندر دختر زرگرے بود که اصل نام بنا و شهرت به بی بی سوناری داشت۔'' یعنې د سکندر مور د یوهٔ زرګر لور وه چې نوم ئې بنا وهٔ او په بي بي سوناري مشهوره وه. بي بي سوناري = زرګره بي بيّ. بنا، پنا یا پنه. بیا د فرشته جلد اول ص ۳۲۹ په حواله لیکي ''در تخت نشینی نظام خان اختلافات بسیار کردند چون مادر او زیبا نام دختر زرگر بود اما به مدد خان خانان فرملی وارث سلطنت پدر شد۔'' یعنې هر کله چې د نظام خان مور زیبا نومیده د زرګر لور وه د هغهٔ په تخت نشیني ډېر اختلافات وشول خو د خان خانان فرملي په مرسته د پلار د سلطنت وارث شو. زما د وړاندې د فرشته ایډیشن جلد ۱ ص ۱۷۹ عبارت داسې دے : ''چون بحکم قادر بیچون بادشاه بهلول لودی در سفر مذکور به رحمت حق پیوست امرا و ارکان دولت جمع شده قرعهٔ مشورت درمیان انداختند وبعضے به بادشاهیٔ اعظم همایون نبیرهٔ بادشاه مرحوم رغبت نمودند واکثرے به بادشاهیٔ باربک شاه که بزرگ ترین فرزندان زنده بود مائل گشتند درین وقت مادر سکندر "زیبا" نام که دختر زرگرے ودوران سفر همراه بادشاه مبرور بود از عقب پرده به امرا گفت که پسرم لیاقت بادشاهی دارد وباشما سلوک نیک خواهد نمود۔ عیسیٰ خان لودی که پسر عم سلطان بهلول بود اورا دشنام داده گفت پسر دختر زرگر بادشاهی را نه شاید که مثلے مشهور است که کار در ودگر از بوزینه راست نیاید۔ خان خانان فرملی که به غایت قوی بود این سخن شنیده گفت فیروز بادشاه مرده است امروز زن وپسر اورا دشنام دادن وسخت گفتن چی لائق بود۔ عیسیٰ خان لودی گفت که تو از نوکرے بیش نیستی میان خویشان وقرابتیان دخل مکن۔ خان خانان در غضب شده گفت که من نوکر بادشاه سکندرم نه نوکر دیگرے واز مجلس برخاسته آمد وبا امرائے که با او متفق بودند نعش بادشاه را برداشته به قصبه جلالی رفت وبادشاه سکندر را طلبیده بر بالائے که در کنار آب بیاه واقع است وآن را کوشک سلطان فیروز میگویند بر سریر بادشاهی متمکن گردانیده به سلطان سکندر مخاطب گردانیدند۔ الخ۔''

یعنې هر کله چې د بې مثله قادر په حکم باچا بهلول لودي په یاد کړي شوي سفر کښې حق ورسید د سلطنت امیران او غړي راټول شول او د صلاح پچه ئې تر مینځ واچوله او ځنې د مرحوم باچا د نمسي اعظم همایون باچهۍ ته لېواله وو او ډېرو باربک شاه چې په ژوندو زامنو کښې ئې له ګردو مشر وهٔ باچهي خوښوله. دغه وخت د سلطان سکندر مور چې

زیـا نـومیده د یوهٔ زرګر لور او په هغه سفر کښې د مرحوم باچا مله وه د پردې له شا امیرانو ته ووئیل چې زما زوے د باچهي لیاقت لري او له تاسو به ښهٔ سلوک کوي عیسیٰ خان لودي چې د سـلـطان بهـلول د ترهٔ زوے وهٔ هغه وښکنځله او ورته ئې ووې چې زرګر د لور زوے باچهي لـره نـهٔ ښـائي. لکه چې متل مشهور دے چې د ترکاڼ کار په بیز نهٔ سمیږي. خان خانان فرملي چې ډیـر زوررور سړے وهٔ چې دا خبره واؤریده نو وې وئیل چې پرون باچا مړ دے او نن د هغهٔ ارتینـه او زوے ښـکـنـځل او ورته سپوري ستغې وئیل څهٔ مناسب. عیسیٰ خان لودي وته کړهٔ چې تـهٔ خـو بـس یـو نوکر ئې د خپلو خپلوانو تر مینځه مهٔ راځه. خان خانان په قهر شو او وې وئیل چې زهٔ د سکندر بادشاه نهٔ د بل چا نوکر یم او له جرګې پاسید، راغے او سره هغه امیرانو چې مـلـهٔ ئـې وو د بـادشـاه مړے ئې وچت کړو او قصبه جلالي ته ئې راوړ. سکندر بادشاه ئې راوغوښت او د آب بیاه په غاړه ئې په یوې لوړه چې کوشک سلطان فیروز بلل شي د باچهي په تخت کښیناوهٔ او د سلطان سکندر خطاب ئې ور کړو."

لـکـه چې د ن ح جلد ۱ حاشیه ۳، ۴ نه معلومیږي په پورتني عبارت کښې "آب بیاه" پـه څـنـو کتـابـونـو "آب سیاه"، "آب میاه" او "آب بیاه" (لکه د فرشته پورتني عبارت) راغلے دے. د ن ح جـلـد ۱ متـن ص ۱۷۰ "آب سیـاه". ن ز ډورن او زمـونـږ پښتو نسخو کښې هم نشته.

دلتـه د مـخـزن افـغـانـي یـا تـاریخ خان جهاني متن او د فرشته د اقتباس نه بیا دا بحث راولاړیږي چې سلطان چې کوم ځائے سره حق رسیدلے وهٔ نوم ئې ملا ولي او کهٔ جلالي وهٔ دې دپـاره چې تاسو ولوستل چې خان خانان فرملي دوي د سلطان مړے راواخست او جلالي ته ئې راوړ نـو قیـاس کیـږي چې د سلطان مړے او کیمپ د جلالي په خوا کښې پروت او ایسار وهٔ. بیـا پـه څـنـو کتـابـونـو کښـې ئـې د مـړینـې ځائے جلالي هم یاد شوے دے. خو د دغه اقتباس بـرخلاف بـه دا خبرې هم د نظر لاندې ساتل پکار وي. (۱) اکثر مؤرخین په دغې خبره متفق دي چې د سـلـطـان د مـړینـې ځائے د سکیت یا سکیته له توابعو وهٔ او جلالي لکه چې په دغو نـو ټـونـو کښې وړومبے وضاحت شوے دے د کول (علي ګړه) نه د ۱۵ میلو په فاصله خاتیز سهیل ته پرته ده. نو په داسې حالت کښې ئې د ایټې ضلعې د سکیته له توابعو کیدل څخو غیر اغـلـب دي. (ب) د فرشته له خپله بیانه هم دا معلومیږي چې سلطان وفات شوے جلالي کښې یا په خواؤشا کښې نهٔ وهٔ ځکه چې هغه ئې د مړینې ځائے واضح طور سره "بهدوالي من اعمال سکیت" یـاد کـړے دے. نو د هغهٔ د بیان له رویه به نتیجه دا وي چې د سلطان مړے له کیمپه چې بهدوالي خواؤشا لګیدلے وهٔ خان خانان فرملي دوي راواخست او جلالي ته ئې راوړ. او یا

دا چې د سلطان د مرګ نه پس هورې چې کوم ځائے واقع شوے وۀ ایسار نۀ شو بلکې د جلالي خواؤشا ته ئې خان راورساوۀ. لکه چې د ن ح او ن ز د مفصل بیان (په مقابله زمونږ د پښتو نسخو) نه اخذ کولے شو. چې سلطان ملاولي سره نزدې حق رسیدلے وۀ خو چې کوم وخت نظام خان شهزاده (وروستو سلطان سکندر) خبریدو نو لښکر د جلالي خواؤشا رارسیدلے وۀ د جلالي په کوشک سلطان فیروز د سلطان سکندر د تخت نشینۍ د ذکر نه پس فرشته دا هم وائي چې د پلار جنازه ئې دهلي ته ولیږله او پخپله عیسیٰ خان پسې لاړ هغه ئې زیر کړ او ګناه ئې ورووبخښله.

۳. د قوسین ترمینځه عبارت د فارسي نسخو په بنا علاوه شو. (فرشته جلد ۱ ص ۱۷۹) هم دغه شپږ نومونه یادوي خو څلورم د حسن خان په ځائے حسین خان او شپږم سره شیخ نۀ لکوي.

۴. سروپائے، خلعت، سروپایونه، خلعتونه.

۵. فرشته جلد ۱ ص ۱۷۹ ـ ۱۸۰ درې پنځوس (پنجاه وسه) تنه او له دیو دا نامې ورکوي: (۱) خان جهان لودي (۲) احمد خان پسر خان جهان بن خان خانان فرملي (۳) شیخ زاده فرملي (۴) خان خانان لوحاني (۵) اعظم خان شرواني (۶) دریا خان پسر مبارک خان لوحاني نائب بهار (۷) عالم خان لودي (۸) جلال خان پسر محمود خان لودي نائب کالپی (۹) شبر خان لودي (۱۰) مبارک خان موجي (۱۱) خلیل خان لودي (۱۲) احمد خان لودي حاکم اټاوه (۱۳) ابراهیم خان شرواني (۱۴) محمد شاه لودي (۱۵) بابو خان شرواني (۱۶) حسین خان فرملي نائب سهارن (۱۷) سلیمان خان پسر دوم خان خانان فرملي (۱۸) سعید خان پسر مبارک خان لودي (۱۹) اسماعیل خان لوحاني (۲۰) تاتار خان فرملي (۲۱) عثمان خان فرملي (۲) شیخ جان پسر مبارک خان لودي (۲۳) شیخ زاده محمد المشتهر به کالا پهاړ پسر عماد خان فرملي (۲۴) شیخ جمال خلف شیخ عثمان فرملي (۲۵) شیخ احمد فرملي (۲۶) آدم خان لودي (۲۷) حسین خان برادر آدم خان لودي (۲۸) کبیر خان لودي (۲۹) نصیر خان لوحاني (۳۰) غازي خان لودي (۳۱) تاتار خان حاکم تجاره (۳۲) میان چمن کنبوه حجاب خاص (۳۳) مجدد الدین حجاب خاص (۳۴) شیخ ابراهیم حجاب خاص (۳۵) شیخ عمر حجاب خاص (۳۶) قاضي عبدالواحد پسر طاهر کابلي حجاب خاص (۳۷) بهوره خان پسر خواص خان (۳۸) شیخ عثمان حجاب خاص (۳۹) شیخ صدیق حجاب خاص (۴۰) خواجه نصر الله مبارک خان (۴۱) اقبال خان حاکم قصبه باري (۴۲) اصغر خان پسر قوام الملک حاکم دهلي (۴۳) شیر خان برادر مبارک خان لوحاني (۴۴) عماد

السلک کنبوه از متعلقان مبارک خان لوحاني (۴۵) عالم لودي (۴۶) کبير خان لودي (۴۷) بهيکن خان (۴۸) ظهير خان لوحاني (۴۹) عمر خان شرواني (۵۰) جبار خان شرواني (۵۱) ستر خان جلواني و بعد از چند گاه الخ." دغسي ښخوس نامې شوې او کهٔ په دويمه نامه کښې د خان جهان نه پس بن حذف کړو نو يو ښخوس نامې شوې.

هر کله چې د فرملي نامه تاسو ښاغلو ښو خله ولوسته او په مخ به ئې هم لولئ بايد چې سره د خنو نورو نومونو ئې تشريح وشي. د فرملي په حقله دا يادګيرنه کوؤ چې د پښتنو د نوغي په حقله په بحث کښې تاسو په يوهٔ تير نوټ ص ۴۴ نوټ ۱ کښې ولوستل چې لکه کرلاني د پښتنو نسابانو په نزد د سړبنيو وصليان دي نو فرملي د غورغوشتيو وصليان دي. کرلاڼ په سړبن کښې اورمړ او فرملي (يا پرمولې) په غورغوشت کښې د کاکړو وصلي دې. په چچ کښې يو لوې کلې د غورغشتي په نامه شته چې ډير پښتانهٔ پکښې اباد دي. حضرت مولانا نصير الدين صاحب چې شيخ الحديث او يو ډير لوې جيد عالم وهٔ هم د دغه کلي وهٔ. لړه موده کيږي چې حق رسيدلي دي. (خدائے تعالیٰ ئې جنت نصيب کا آمين) بيا د پرمولي په نامه هم په چچ کښې او هم د منډيو په صوابي تحصيل ضلع مردان کښې يو کلے شته.

لوحاني، نوحاني، لوهاني (د پښتو لوڼ) لوڼ زمونږ نسابانو د سُور ورور او د اسماعيل زوې ياد کړے دے د اسماعيل پلار سيانړے دے او سيانړے د لودي زوې دے. نو د سياني ورور پرنګے دے. بهلول دوي د پرنګي اولاد دے او نوحاني او سوري د اسماعيل نو دغسې نوحاني او سوري هم لودي دي. د پښتو مشهور روښاني شاعر شيخ دولت هم لوڼ يا لوحاني وهٔ.

کنبوه يا کمبوه: اګر کهٔ دا خلق په پښت يا نوغي پښتانهٔ نهٔ دي خو د کمبوه نامې چې کوم بيل بيل توجيهات شوي دي له هغو يوه دا ده چې "کنبو" کښې واؤ نسبتي دے لکه په هندو کښې (هند ته نسبت لرونکے) او کنب د غزني خواؤ شا يو کلے دے او دا خلق هر کله چې له هغه خواؤشا راغلي وو نو کنبو مشهور شول. دغه خلق د تقسيم نه وړومبے په هندوستان کښې ډير وو خصوصاً په يو پي کښې. دغو خلقو د يو پي د مسلمانانو په اجتماعي ژوند کښې ښهٔ اثر او مقام لرلو. او د اسلامي هند له تاريخه هم په ښهٔ شان بريښي چې ښهٔ با اثره او معتبر خلق وو. په پنجاب کښې هم کنبوه شته او څهٔ لږ ډير په لړه پښتونخوا کښې هم بلکې پيښور سار ته نزدې نمرخانهٔ لوري يو کلے هم په دې نامه شته. د ښاغلي عظمت الٰهي زبيري له نامې اياد شول چې په کنبو ګانو کښې يوه ډله د دې قوم په حقله دا دعویٰ لري چې د حضرت بير بن العوام رضي الله عنه له اولاده دے.

په ديو نامو کښې د دلچسپي يوه خبره دا هم ده چې ترې بريښي چې تر دا وخته تر کو

او پښتنو وغيره ؤ د هندوستان د ژبې او كلچر اثرات نۀ صرف اخستل شروع كړي وو بلكې تـر كـافـي حـده ئې اخستي وو. لكه چې له خنې نامو او عرفونو ليدۀ شي د مثال په طور بهيكن خـان (چـړې ګوتړے خان) بهيک = چړ، ګديه. بهكاري = چړي، ګدا، بهيكن اسم تصغير = چړې ګوتړے. ما په خپل ملک كښې هم د يوۀ بناغلي نامه سيد چړي اوريدلے ده. كالا پهاړ = تور غر. بهوره يا بهوړے خان = سور بونګ خان.

۲ مـط ن ح جـلـد ۱ ص ۱۷۲ زمونږ پښتو نسخې، ډورن حصه ۱ ص ۵۵، ن ز ۲/۶۵ (او خنـې نـورې نسخې چې ن ح ئې په حاشيه كښې حواله وركوي) علي خان و تاتار خان لودي. فـرشته جلد ۱ ص ۱۸۰ "عيسىٰ خان" ئې د ولايت له ذكره. مونږ د ن ح او فرشته پيروي دې دبـاره هم وكړه چې دا سرے علي خان يا عيسىٰ خان په هر حال په پټيالي كښې ياد شوے دے. او بيـا څـو كـرښې پسته پښتو نسخې او ن ز او ډورن عيسىٰ خان د شمس آباد او پټيالي حاكم يادوي.

۷. ن ب "راىٔ كنيسر" فرشته جلد ۱ ص ۱۸۰ "راىٔ ګيلن"، ډورن حصه ۱ ص ۵۵ "راے كشن

ص ۶۰

مـط ن ح جـلـد ۱ ص ۱۷۳ ن ز ۱/۶۶ بـكـسـر چهتـره ن ا "چهتره او دپكهتره" ن ب "پـكهتـره" ډورن حـصـه ۱ ص ۵۶ "كوتره" ن ح جلد ۱ ص ۱۷۳ حاشيه ۵ دغه او جيتهره يو خـائـے كښي چې د ضلع اټاوې په عظيم نګر بر ګنې كښې دے. دلته د ن ح فاضل محشي بيا د ايتـه پـه خـائـے اټاوه ليكلې ده، جيتهره د ايټې په علي ګنج تحصيل كښې ايټې ته نزدې واقع ده. (دي لودهي سلټانز ص ۶۳ حاشيه ۴)

۲. ن ز ۱/۶۶ ايضاً. ن ح جلد ۱ ص ۱۷۴ "مان" (سنګهـ). قوسين علامت دې د "نسخۀ تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني رامپور ستيټ (رضا) لائبريری ۳۸۱"

۳. اضـافـه مـط ن ز ۲/۶۶ و ن ح جـلـد ۱ ص ۱۷۴. ډورن جلد ۱ ص ۵۶ صرف چنلواړ او سـكيـت د ن ح فـاضـل مـحشـي ليكي چې جليسر د ګنګا جمنا د دوآبې يو مقام د اګرې په ضلع كښـې دے (ص ۱۷۴ جـلـد ۱ حـاشـيـه په حواله د امپيريل ګزټئير جلد ۵ ص ۱۷) خو دلته په څۀ سبـب غـلـطي واقع شوے معلوميږي. جليسر د يو پې د ايټه ضلعې جنوب مغربي تحصيل او هم په دغه تـحـصـيـل كښـې يـو خـائـے دے. (امپيـريـل ګزټئير جلد ۱۴ ص ۲۶،۲۷) او بناغلے ډاكټر عبـدالـحـليـم د يـو پـې ډسټر كټ ګزټئير جلد ۱۲ ص ۱۷۵ په حواله ليكي چې جليسر د جليسر نـومـې پـر ګـنې صدر مقام د ايټه په ضلع كښې د اسان او سرسه سيندونو ترمينځه واقع دے. (دي لودهي سلټانز ص ۷۹ حاشيه ۲)

۲. ن ز ۲٦/۱ ايضاً. ن ح جلد ۱ ص ۱۷۴ "مان" (سنگهه). قوسين علامت دي د "نسخهٔ تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني رامپور ستيټ (رضا) لائبريری ۳۸۱"

۳. اضافه مط ن ز ۲/٦٦ و ن ح جلد ۱ ص ۱۷۴. ډورن جلد ۱ ص ٥٦ صرف چندواړ او سکيت د ن ح فاضل محشي ليکي چې جليسر د گنگا جمنا د دوآبې يو مقام د اگرې په ضلع کښې دے (ص ۱۷۴ جلد ۱ حاشيه په حواله د امپيريل گزنټير جلد ٥ ص ۱۷) خو دلته په څهٔ سبب غلطي واقع شوے معلوميږي. جليسر د يو پې د ايټه ضلعې جنوب مغربي تحصيل او هم په دغه تحصيل کښې يو ځائے دے. (امپيريل گزنټير جلد ۱۴ ص ۲٦، ۲۷) او بناغلے ډاکټر عبدالحليم د يو پې ډسټرکټ گزنټير جلد ۱۲ ص ۱۷٥ په حواله ليکي چې جليسر د جليسر نومې پرگنې صدر مقام د ايټه په ضلع کښې د اسان او سرسه سيندونو ترمينځه واقع دے. (دي لودهي سلطانز ص ۷۹ حاشيه ۲)

۴. اضافه مط ن ز ۲/٦٦ و ن ح جلد ۱ ص ۱۷۴ ''تاکليدهاے قلعه را به او سپارد۔''

٥. ن ب "له تو ابعاتو".

٦ پښتو نسخې "سورن".

۷. پښتو نسخې "خود و بياني ته الخ" فارسي نسخې ''خود باز به بيانه رفت'' يعنې پخپله بيرته الخ.

۸. ډورن حصه ۱ ص ٥٦. "۹۹۸"

صــ ٦۱

ن ح جلد ۱ ص ۱۷٥ متن "بجکوتيان" حاشيه "بجکوتيان" و "بچکوتيان". ن ز ۲/٦٦ "بچکوتيان" پښتو نسخې "پنجکوتيان". بجگوتي يا بچگوتي د مين پوري د چوهان راجپوتو يوه څانگه ده. وگورئ ن ح جلد ۱ ص ۱۷٥ حاشيه ۱. ن ح هم لکه د پښتو نسخو او ن ز د ک په ځائے هم ک د زړې املا پربښے دے خو د بج يا بچ نه پس دويمه توری "گوت" ذات، قام، ډلې سره تعلق لري.

۲. مط پښتو نسخې او ن ح جلد ۱ ص ۱۷٥. ن ز ۲/٦٦ جوسے يا چوسے (جوسي يا چوسي) مشکوک. ډورن جلد ۱ ص ٥۷ "جوسي" (واؤ معروف). دا جوسي. چوسي يا چوسا اصل کښې چهوسي ده چې اله آباد ته مخامخ د جمنا گنگا گډون ځائے څخه په تحصيل بهولپور ضلع اله آباد کښې واقع ده. (وگورئ ن ح جلد ۱ ص ۱۷٥ حاشيه ۳ په ص ۱۷٥ تا ۱۷٦.

۳. مط ن ز ۲/٦٦ و ن ح جلد ۱ ص ۱۷٦ و ن . ، ن الف "ملخانو". ډورن جلد ۱ ص ٥۷

"ملاخان".

یعني "....... خو د ملا خان په لاس کېنیووت.....

د متعلقه ځائے عبارت په فرشته جلد ۱ ص ۱۸۰ کښې داسې دے "....وقتیکه ازگزر پرستی پیال از آب گنگ میگزشت رائے شهدیو راجه تهته اورا اسیر ساخت." یعني چې ګنګا سیند د پرستي پیال ګودره تیریدو نو رائے شهدیو د تهتې راجه بندي کړ.

۴. مط ن ح جلد ۱ ص ۱۷۶. ن ز ص ۱۷۷. پښتو نسخې "په طرف د جونپور". ډورن حصه ۱ ص ۵۷ "That Town" "هغه ښار" (یا قصبه). بیا پښتو نسخې جونپور. فارسي نسخې او ډورن "دلمو" فارسي عبارت "....به کالا پهاړ اشتهار یافت رفت." یعني چې په کالا پهاړ مشهور وۀ لره لاړ. پس له دې خابه داسې دے "سلطان سکندر در ۸۹۹ تسع و تسعین و ثمانمایه تر وجه نمود و (نموده) به دلمو (به داله مؤ رسید الخ)" یعني سلطان سکندر په ۸۹۹ هجري کښې هغه طرف ته مخه کړه او چې دلمو ته ورسید الخ.

دلمو یوه زړه قصبه له فتح پوره ۱۴ میله قطب او له مانکپوره ۳۲ میله قبلې ته ده. د ضلع رائے بریلي (صوبه یو پي) په تحصیل لال ګنج کښې د ګنګا سیند په بنی غاړه پرته وه. دغې قصبې د دهلي او د جونپور د باچهانو په دورو کښې ډیره ترقي کړې وه.

۶ پښتو نسخې بکسر. ن ز ۱/۶۷ و ن ح جلد ۱ ص ۱۷۸ "بکهکر" (یعني کهکر ته) ډورن حصه ۱ ص ۵۷ "کوترا" یا "کوټرا" Kutra. د ن ح فاضل محشي د تاریخ فرشته، مخزن افغاني او ډورن په حواله په ترتیب "کاټه کده"، "کتهیر" او "کتر" د مختلفو نومونو د لیکلو نه پس د طبقات اکبري د انګریزي ترجمې ص ۳۶۰ حاشیه ۴ په بنا لیکي "کهتر درین وقت، بنام روهیلکهنڈ مشهوراست." یعني کهتر دا وخت د روهیلکنډ په نامه مشهور دے. زما په مخکښې د فرشته ایډیشن جلد ۱ ص ۱۸۱ کښې "کاتهه گرهـ" هغه علاقه چې وروستو د روهیلکهنډ په نامه مشهوره شوه "کهتر" نه بلکې "کتهیر" ک تې ے ے ه ر) په نامه لکه چې روایت دے د کتهیریه راجپوتو له نسبته بللې شوه. خو دا وخت د سیاق و سباق مطابق د ځایونو د محل وقوع له رویه کتیهر یعني روهیلکهنډ له بحثه باید چې خارج وي. مونږ په حاشیه ۵ و ۵ الف کښې ولیدل چې دلمو د فتح پور او مانکپور خواؤ شا پروت دے. مانکپور چې د ګنګا سیند په غاړه ګس یا قطب لوري ته پروت دے ورته نزدې هم د دغه سیند په غاړه جنوب لوري ته کړه نومے ځائے پروت دے. دا دواړه ځایونه د پریاګ (اله آباد) نه شمال مغرب ته دي. له دغو دواړو ځایونو فتحپور شمال مغرب ته دے. ګوندې دغه د بحث لاندې ځائے کړه وي. کړه او مانکپور په یوه نامه کړه مانکپور هم بلل کیږي. یو بل ځائے کوړه هم

شته خو هغه کافي لرې شمال مغرب ته د کالپې نه مشرق ته پروت دے. جونپور چې د گومتي سيند په غاړه واقع دے له فتحپور، مانکپور او کړه تقريباً سيخ لويديز لورې پروت دے. (وگورئ د الفنستن "دي هسټري آو انډيا" سره پيوسته نقشه.) د "دي لودهي سلطانز" فاضل مؤلف ليکي چې کاتهه گرهه د رائے بريلي ضلعې په دلمؤ پرگنې کښې دے. (ص ٢٦ حاشيه ١) لکه د جونپور، اله آباد ا روهيلکند وغيره ژ. خايونو د رائے بريلي ضلع هم په يو پي کښې ده. کۀ لفظ يا نوم کهکر، کهکر د کټکر، کهتهکر" په خائے ليکلے شوے وي او ٥، هـ د پاسه نقطې پاتې شوے وي (لکه چې فارسي کښې به استعماليدے) نو غالب قياس دے چې دا خائے هم کاتهه گرهه دے.

٧. د "..... جونپور ته روان شۀ". نه پس "تر خبر راوررسيد" پورې عبارت د ن ز ٦٧/١ و ن ح جلد ١ ص ١٧٨ په بنا وليکلے شۀ د پښتو نسخو عبارت داسې دے "يوه مياشت ئې هورته په ښکار او عيش و عشرت تيره کړه. دويم خل ئې بيا باربک شاه په حکومت د جونپور پريښ او خود په طرف د دهلي متوجه شۀ. په نواحي د اودې رسيدلے وۀ چې خبر وررسيد." د ډورن جلد ١ ص ٥٧ مفهوم هم د پښتو عبارت مطابق دے.

٨. اضافه مط ن ز ٦٧/١ و ن ح جلد ١ ص ١٧٨

٩. دلته ن ب "اکز" (مشکوک) ن ا "گرے". ن ح جلد ١ ص ١٧٨ "آگره". ډورن حصه ١ ص ٥٧ هم "آگره" ليکن ن ز ٦٧/١ واضح "از راه کره" (يعني کړه) او ن ح حاشيه د دوؤ نورو نسخو (تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني رامپور سټيټ (رضا) لائبريري ٣٨١ ورق ٦٩١ او د بانکي پور خدا بخش لائبريري ٥٢٩ ورق ١١٩) او د تاريخ فرشته جلد اول ص ٣٣٢ او مآثر رحيمي جلد اول ص ٤٥٦ په حواله "از راه کره" زما په مخکښې د تاريخ فرشته ايډيشن جلد ١ ص ١٨١ کښې "از راه کره".

٩ الف. جنوب مشرقي يو پي تحصيل و ضلع مرزا پور، د مرزا پور له بناره ختيز ته او له بنارسه سهيل ته.

١٠، ١٠ الف. دلته ن ز پته. په بهته وړومبے بحث شوے دے لکه چې متن وائي کنتت هغه وخت د بهتې له توابعو وۀ. (د اله آباد د سرکار له تابعو پاتې شوے دے) کنتت هم لکه د چنار د مرزا پور ضلعې د مرزا پور په تحصيل کښې دے. د ن ح فاضل محشي و ضاحت کوي چې د مرزا پور ضلعې او تحصيل کښې د اله اباد او ريوه د لارې په غاړه داجلد او گنگا سيندونو په گډون خائے مرزا پور ته نزدې او ١٦ ميله د ريوه سهيل ته واقع دے. تاريخي خائے او د اکبر باچا په عهد کښې د الله اباد له محالاتو څخه وۀ. (جلد ١ ص ١٧٩ حاشيه ٢) خو د

هندوستان د صوبو او ضلعو نقشې ۱۹۱۵ ء له رويه د اله اباد له ضلعې نه د ريوې هر ځائې سهيل ته راځي د مرزا پور ضلع د اله اباد له ضلعې جنوب مشرق او له ريوې شمال مشرق ته ده. د مرزا پور د ضلعې انتهائي جنوبي برخه د ريوې وسط ته په مشرق کښې مخيږي. د مرزا پور ښار هم د اله اباد له ښاره جنوب مشرق ته او د ريوې له ښاره شمال مشرق ته دے. (وګورئ د الفنستن "دي هستړي آو انډيا" سره پيوسته نقشه او روډ ميپ آو انډيا ۱۹۲۸ ء) د محوله حاشيې اصل الفاظ دا دي "کنتت فی الحال در ضلع و تحصیل مرزاپور بر کنار راه الہ اباد در یوہ و برا تصال اجلہ و گنگ نزد مرزا پور بہ فاصلہ شانزدہ میل جنوب ریوہ واقع است۔ این جا تاریخی است در زمانہ اکبر بادشاہ این یکے از محال سرکار الہ اباد بود، رجوع کنید بہ مرزاپور ڈسٹرکٹ گزیٹیر ص ۳۳۳، آئین اکبری حصہ دوم ص ۱۷۲۔" بيا زما د وړاندې په يادو شوؤ نقشو کښې د مرزا پور ښار او د ريوې ښار تر مينځه ډيره فاصله ده. او که کنتت له مرزا پور او ريوې يوؤ ته نزدې وي نو له بله ئې شپاړس ميله کيدل محل نظر دي. او بيا په يادي شوے حاشيه کښې د کتاب جغرافيه رامپور ۳ ورق ۱۹ الف په حواله دا هم ليکلي دي "قصبہ کنتت چہل کروہ شرقی بنارس" دا خبره ئې له مرزا پوره او بيا خاص طور سره ئې له ريوې نور هم لرې کوي. د "دي لودهي سلطانز" مؤلف ص ٦٨ حاشيه ۲ کنتت اوس په حيثيت د علاقائي اصطلاح متروک بولي او محل وقوع ئې د مرزا پور په حدودو کښې د اجله او ګنګا په مقام اتصال ښيي.

۱۱ ډورن جلد ۱ ص ۵۷ هم "اريل اوبياک". ن ز ۲/٦٧ او ن ح جلد ۱ ص ۱۷۹ صرف "اريل" ن ح حاشيه ۴ په حواله د مخزن الفغاني د يوې نسخې او ډورن ص ۵۷ "اريل وبياک". د يادې شوے حاشيې له رويه اريل د اله اباد ضلعې په کرچنا تحصيل کښې د جمنا سيند په ښي غاړه د جمنا ګنګا ګډون ځائې ته نزدې اله اباد ته مخامخ واقع دے. اکبر باچا دغه ځائې جلال آباد نوملے وؤ.

۱۲. اضافه په بنا د ن ز ص۲/٦٧ و ن ح جلد ۱ ص ۱۸۰.

۱۳. پښتو نسخې هم ډورن حصه ۱ ص ۵۷ "په لار د اګرې" ن ز ۲/٦٧ و ن ح جلد ۱ ص ۱۸۰ "از راه کره" حاشيه ۱ "..... و منتخب التواريخ جلد ۱ ص ۳۱۵" کره مانکپور ....." زما په مخکښې د منتخب التواريخ اردو ترجمه ص ۲۰٦ "کړه او مانکپور....." (وګورئ هم په دې صفحه زمونږ نوټ ٦ او ۹.

۱۳ الف. ن ز ۲/٦٧ "------را کہ اجمل واعقل بود و در زنان آن زمان فائق تر بود۔" يعني ډيره ښائسته او هوښياره او د هغه وخت په ارتينو کښې ډيره غوره وه. ن ح جلد ۱ ص ۱۸۰ "کہ اجمل واعقل زنان آن زمان بود" يعني چې د هغه وخت له ګردو ارتينو ښائسته او هوښياره و.

د فارسي عبارت ".. عزيمت نمود" په بنا اضافه وشوه. بې له دې به عبارت ناقص وي.
فارسي نسخې "شش ماه" يعني شپږ مياشتې.

صـ ٦٢

مـط ن ز ۲/ ، ۱/۷ ن ح جـلـد ۱ ص ۱۸۰ (مـوضـع بـديو تاكل) ن ا "پريوناكل" ن ب "په يوناكل" ډورن حصه ۱ ص ۵۸ "مديوماكل"

۲. مـط ن ز ۱/٦۸ و ن ح جـلـد ۱ ص ۱۸۱ پښتو نسخې "كهان كهالي" ډورن حصه ۱ ص ۵۸ "كنكوني".

۳. نرسنگهـ ديو، بر سنگهـ ديو يا بيرسنگهـ ديو يا بغير له ديوه. پښتو كښې "ديو برسنگ". فارسي نسخې "برسنگهـ.

۴ و ۴ الف. دلتـه پښتـو كښـې هـم دغسـې دے يعني بير سنگهـ ديو. عبارت داسې دے "له واقعې د بير سنگهـ ديو د ماتې د راجه بهيد هم په لور د سركجه ئې گريز وكړ." د "ماتې" نه پس "د" او "سـركجه" نه پس "ے" ما حذف كړل. فارسي عبارت "سلطان تعاقب او نموده به بهته رسيد راجه بيد بجانب موضع سركجه فرار نمود." پښتو او فارسي، دواړو كښې سر كجې وته د فرار نسبت راجه بهيد تـه شـوے دے. د ډورن د عبارت مفهوم داسې دے چې د راجه بهيد زوې بير سنگو. ديو نه سلطانه شكست وخوړ نو د اسلام لښكر ورپسې دې پټنې ته وتښ. خو د خپلې تيښتې په وجه له خپله پلاره ويريدو او سر كجې ته په تيښته لاړ.. (حصه ۱ ص ۵۸)

سـر گـجـه: د سـر گـجې رياست په وسطي هند كښې د يو پي د مرزا پور ضلعې جنوب ختو مشرق تـه دے. د سر گجې مغرب لورې ته د دې علاقې او د ريوې د علاقې تر مينځه دوه ډير واړهٔ رياستـونه كوريه او چنگ بهكر واقع دي. د سر گجې ښار د ريوې له ښار جنوب مشرق تـه دے. (وگورئ د هندوستان د صوبو او اضلاعو نقشه ۱۹۱۵ ء او د الفنستن "دي هستري آو انډيا" سره پيوسته نقشه).

۵. ډورن حصه ۱ ص ۵۸ ايضاً. ن ب "بيمار شه او ومړ". ن ز و ن ح "درا ثنائے راه فوت كرد".

٦. ن ا "بيهـونـده" ډورن حصه ۱ ص ۵۸ "بيهوند". ن ب "پهونده". ن ز ۱/٦۸ "بهپونده" ن ح جلد ۱ ص ۱۸۱ "بهپوند".

۷. ډورن ايضاً. ن ز "پټنه" ن ح "بهته".

۸ و ۸ الف. اضافه مط ن ز و ن ح "افيون وكوكنار ونمك وروغن". ډورن هـم د کې كنار ترجمه چې به Papaver وه نـهٔ لري. د روغن ترجمه Oil يـعـنې تيل لري. روغن نه مراد ديل او غوړ عموماً غوړي او تيل هم كيدے شي. ډورن Papaverپه ځائے Opiumلري.

۹. ډورن حصه ۱ ص ۵۸ ایضاً فارسي عبارت "هرکس که صد اسپ داشت نود اسپ او ضائع گشت وده اسپ او ماند" یعني کهٔ د چا سل اسونه وو نو نوي ئې ضائع او لس ور پاتې شول.

ډورن حصه ۱ ص ۵۸ د ایضا و ن ز ۲۹/۱ او ن ح جلد ۱ ص ۱۸۲ "-----اسپ نه مانده و یراق بالکل تلف شده-" یعني اس پ ـي نه شو او د جنګ ساز و سامان ئې ټول ضائع شول. کهٔ د "براق واړه" نه پس ومړن نهٔ وې نه قیاس کیدې شو چې ګوندې اصل پښتو نسخه کښې "یراق" وهٔ او ناقل براق ولوست. یراق د جنګ ساز وسامان. د براق نه مطلب به دلته بنهٔ او اعلیٰ، د کار اس وي.

۱۱ فارسي عبارت "-----جمعیت بیست وصد زنجیرفیل یعني " لویه کنه او سل عدد هاتیان". لکه چې روبو او انو سره به ترتیب د عدد دپاره مبلغ او موازی او اس او غوا میښې وغیره ؤ سره راس راخي نور د فیل سره زنجیر راخي.

۱۲ ن ز "خان جهان"

۱۳ دواړه خایه قوسین د فارسي نسخو په بنا اضافه شول. فارسي نسخو کښې د سلطان د نقل او حرکت ذکر د خان خانان (یا خان جهان) و سالباهن ته د استولو نه وړومبې دې.

۱۴ ن ب "تعجیل تمام".

۱۵ د صوبې او هم په دغه صوبې بهار (د یو پې د صوبې نه جنوب مشرق ته) د یوهٔ خائې نوم. وګورئ نوټ ۱۵ ب.

۱۵ الف. ن ا "کهنګا کانون" ن ب "کهګل کاون" ډورن حصه ۱ ص ۵۸ "کلګام". ډورن دلته د "سکندر" په خائې "بهلول" هم لیکلي دي.

۱۵ ب. پښتو نسخې لکهنو. خو د یو پي لکهنو ضلع او ښار دا وخت د نظر د وړاندې د واقعاتو د منظر نه ډیر مغرب ته دي. سلطان حسین له بهاره بنګال ته وتښ نو لکهنو له بحثه وتلې دې. د سلطان حسین مخه مشرق ته وه او لکهنو چې له جونپوره هم ډیر قطب لویدیز ته دې ډیر وروستو پاتې وهٔ. د لکهنوتي زوړ نوم لکهشمي وتي وهٔ. خکه چې وائي چې لکهشمن سینا نومې راجا آباده کړې وه. بیا ئې ورته لکهنوتي وې. او بیا په ګوړ مشهوره شوه. د مغربي بنګال د مرشد آباد ضلعې نه شمال ته د مغربي بنګال یوې بلې ضلعې مالدا کښې واقع ده. (امپیریل ګزټئیر جلد ۱۲ ص ۱۸۶ ـ ۱۹۱) خصوصاً ص ۱۸۶ او د هندوستان د صوبو او ضلعو نقشه ۱۹۱۵ ء.) لکهنوتي د مرشد آباد ښار قطب ته او د بهار د صوبې صدر مقام پټنې نه سهیل ختیز ته ده. (وګورئ د ډاکټر سري واستاوه "دي سلطنت آو ډیلهي" د ص ۱۷۶، ۱۷۷ ترمینځه نقشه).

کهلګاون: کهلګاون د بهاګلپور په ضلع کښې د ګنګا سهيلي غاړې ته له بهاګلپوره ۲۳ ميله لرې دے. (ن ح جلد ۱ ص ۱۸۳ حاشيه ۵ تر ص ۱۸۴) د بهاګلپور ضلعې (صوبه بهار) د مغربي بنګال د مالدې ضلعې نه قطب لويديز ته ده چې تر مينځه ئې د بهار د سنتهال پرګنے نومے ضلعې (د بهاګلپور جنوب ته) شمال مشرقي برخه حائله ده.

د بهار کوټ: تر څو چې د دغه کوټ تعلق دے نو لکه چې په نوټ ۱۵ کښې وونيل شول بهار د صوبې او هم په دغې صوبې کښې د يو ځائے نوم هم دے. دغه ځائے د بهار صوبې د صدر مقام پټنه نه جنوب مشرق ته او د بهار صوبې مشهور ښار ګيا (چې د پټنې نه بالکل سهيل ته دے) نه شمال مشرق ته دے. د بهاګلپور نه دغه ځائے جنوب مشرق ته واقع کيږي اغلب چې د بهار د کوټ نه د دغه ځائے کوټ مراد وي ګنه هسې خو د بهار په علاقه يا صوبې کښې کوټونه ډير وو، د بهار ضلعې چې په دې نوټ کښې يادې شوي دي په امپيريل ګزنټير کښې د هغو او د نورو ضلعو ذکر هم د بنګال د ضلعو په حيثيت کيږي. زما د وړاندې د امپيريل ګزنټير نوے ايډيشن د ۹-۱۹۰۸ء چاپ دے پسته بيلتون شوے دے.

۱۶ درويش پور (تحصيل شيرپور ضلع پټنه صوبه بهار) يو وړوکے کلے چې بياپور نومے يو لوے کلي ته جخت پروت دے. دغه بياپور د صوبه بهار د مشهور ځائے منير شريف (د م زور او ے پسه يعنې مجهوله) نه درې ميله ختيز لورې دے. (ن ح جلد ۱ ص ۱۸۴ حاشيه ۳. "لودي سلتانز" ص ۴۲ حاشيه ۲)

۱۷. "بہ جانب ترہت ایلغار نمود" دوړ يا چپاو. ايلغار. ابوالفضل ترهت د سرکار بهار له متعلقاتو ياد کړے دے. او په ستائنه کښې ئې وائي چې: "ترہت از دیرباز بنگاه ہندی دانش، آب و ہوا بس گزین، جغرات تا یکسال دگرگون نشود۔ شیر فروش اگر بہ آب آمیزد از غیب بدو گزندے رسد۔ گاومیش چنان شود کہ شیر بشکرد، گولاب ہا فراوان و کے چنان است کہ آب او ہرگز کم نشود۔ وژلف او ناپدید، و درخت نارنج تا سی کروہ نشاط افزا، بہ ہنگام بارش آہو و گوزن و شیر یک جا بہ آبادی درآید و مردم بجا نشکری برخیزند۔ بسا دست و پاشکستہ بہ چار دیواری سرد ہند آ ہستہ آ ہستہ بہ کار برند۔" (آئين اکبري جلد ۱ ص ۴۷ نولکشور ايډيشن) يعنې له زړې زمانې د هندي علومو مرکز دے. اوبهٔ او هوا ئې ډيره ښه ده. ماستهٔ پکښې تر يوهٔ کاله نهٔ خرابيږي. کهٔ ګوجر به پيو کښې اوبهٔ ګډې کړي نو له غيبه بودري بيامومي. سنډګان ئې دومره زورور چې مزرے ئې ښکار. تالابونه پکښې ډير دي. او يو داسې چې اوبهٔ ئې هيڅ کله نهٔ کميږي. او تل ئې نهٔ دے څرګند. د نارنجانو جنګې ته ديرشو کروهو خوښې زياتوونکے. د باران په موده کښې هوسې ګاوز او مزري آبادی ته راوځي. وګړے ئې ښکار کولو او ورله لاس او پښې ماتولو نه پس په چار ديواری کښې ګير کړي او په ورو ورو ئې پکاروي.

ډاکټر عبدالحليم ليکي چې ترهوت يو زوړ علاقائي حد دے چې په چمپارن، مظفر پور او دربهنګه ضلعو او د نيپال په يوې ليکې مشتمل دے. ("دي لودي سلټانز" ص ۴۲ حاشيه ۳) درې واړه ضلعې د بهار له شمالي اضلاعو دي او ترې په شمال مغرب کښې د نيپال علاقه ده. ډورن حصه ۱ ص ۵۸ د ترهت په ځائے سرهت.

۱۸ پښتو "استقلال راوړ" قرسين زما دي. دغه جمله فارسي نسخو کښې نشته. صرف د راجه د استقبال کولو ذکر دے لکه چې زمونږ پښتو ترجمه کښې په مخ راځي.

ص ۶۳

زمونږ د وړاندي پښتو ترجمه مبهمه او دې دپاره خرابه ده. فارسي عبارت داسې دے: "سلطان احمد پسر کلان او را بہ خطاب ہمایون ممتاز گردانید و بہ زیارت شیخ شرف الدین یحییٰ منیری عزیمت نمود۔ الخ" يعني سلطان د هغهٔ زوے احمد خان د اعظم همايون په خطاب ممتاز کړ او شيخ شرف الدين يحيىٰ منيري زيارت له ورغے الخ. لکه د "گردانيد" (کړ) فاعل سلطان دے نو هم دغسې د "عزيمت نمود" (نيت يا اراده ئې وکړه ورغے) فاعل هم سلطان دے. پښتو ترجمه کښې ابهام او اشتباه فعل لازم "شهٔ" نه پيدا کيږي. د"شهٔ" فاعل احمد خان د (گردانيد يعني کړو مفعول) نو د "شهٔ" فاعل به د سباق له رويه (او دې دپاره قياس او گمان ته هم نزدې دے) د "عزيمت نمود" (نيت يا اراده وکړه ورغے) هم فاعل وي.

منير :(م ن ي ر) : ص ۶۲ نوټ ۱۶ هم وګورئ. منير د بهار د صوبې د دينا پور زيلي قسمت په پټنه کښې د سون او ګنګا له ګډون ځايه د يو څو ميلو په فاصله او د دينا پور د چاوني نه د لسو ميلو په فاصله واقع دے او ډير زوړ ځاے دے. (امپيريل ګزنټيير جلد ۱۷ ص ۱۷۵). د ن ح فاضل محشي ليکي چې منير د پټنه نه شل ميله لويديز ته د سون سيند په غاړه واقع دے. (جلد ۱ ص ۱۸۴ حاشيه ۲ تا ص ۱۸۵). ډورن (حصه ۱ ص ۵۸) د منيري هجه انګريزی کښې Muneeri کړې ده يعني "ے" ئې معروفه ګڼلې ده. (لکه چې د دوؤ اي ګانو معلوميږي) او د "م" نه پس د "u" نه اندازه کيدے شي چې هغهٔ "م" مضموم، پيښ سره ګڼهٔ اګر کهٔ انګريزی کښې u د پيښ او زور اواز (او نور هم) ورکوي خو د مشرقي نومونو په ليکاړنه Transliteration کښې "u" عموماً د پيښ او "و" دپاره راځي. بيا د ډورن ترجمه کښې د "ان منير" in Muneer لفظونه زياتي دي. او د ترجمې مطلب دا دے چې په منير کښې د شيخ شرف الدين يحيىٰ منيري مزار زيارت له لاړ. حال دا چې لکه تاسو به زر ولولئ د شيخ موصوف د والد صاحب مزار خو هم په منير کښې دے خو د هغوي خپل مزار د بهار په قصبه کښې دے. شيخ شرف الدين ابن يحيىٰ المنيري د هندوستان د مشهور مشائخو څخه

دي. د خواجه نجيب الدين فردوسي مريد وۀ. د دوي له تصانيفو مکتوبات ډير مشهور دي چې د آداب طريقت، اسرار حقيقت او آداب مريدين په باب ډير څۀ پکښې کښلي دي. په ۷۸۲ هجري مطابق ۱۳۸۰ء کښې وفات شول او په بهار کښې ښخ کړل شول. د دوي د پلار مزار په منير قصبه کښې دے چې مسکن ئې وۀ. (قاموس المشاهير جلد ۲ ص ۱۷)

د منتخب التواريخ د اردو ترجمې محشي د دوي په تصانيفو کښې د "معدن المعاني" نه علاوه چې د مکتوباتو او ملفوظاتو مجموعه ئې ده. ارشاد السالکين او شرح آداب المريدين د دوئ د وچتې پايې تصانيف يادوي. او د پير نامه ئې لکه د صاحب قاموس المشاهير هم شيخ نجيب الدين فردوسي ښيي. او وائي چې د حضرت نظام الدين اولياء د ملاقات دپاره دهلي ته تلي وو خو هغوي په حق ؛ سيدلي وو. چې وطن ته جاروتل نو په بهار کښې ئې په راج گير غر ډيره موده رياضت کړے وۀ. د صاحب معارج الولايت د يوۀ روايت له رويه د دوي وفات په ۷۸۲ هجري کښې د فيروز شاه تغلق په عهد کښې شوے وۀ. (ص ۲۰۸ حاشيه ۲)

ډاکټر عبدالحليم هم ليکي چې د حضرت نظام الدين اوليا همعصر وو د فارسي هندی او پوربي مؤثر ليکوال وۀ او وائي چې د هغوي په آثارو کښې ئې د مکتوباتو مجموعه بهترين اثر دے. ستائيلے ډاکټر ۂ هغوي ۂ وفات ځائے او مدفن بهار قصبه ښيي او د مړينې کال ئې هم لکه د صاحب قاموس المشاهير او هم د منتخب التواريخ د اردو ترجمې د محشي ۷۸۲ هجري مطابق ۱۳۸۰ء بيانوي. (دي لودي سلتانز ص ۷۲ حاشيه ۳ تر ص ۷۳)

د ن ح فاضل محشي په يادې شوې حاشيه (جلد ۱ ص ۱۸۴ حاشيه ۲ تا ص ۱۸۲) کښې، د حضرت شيخ رحمة الله عليه د وفات کال ۱۲۹۰ـ ۱۲۹۱ بيانوي. ظاهره ده چې عـ ـڼ سن تري مراد دے. خو ۷۸۲ هجري کال د ۷ اپريل ۱۳۸۰ء نه تر ۲۷ مارچ ۱ ۳/ ءوۀ. ۱۲۹۰ء کال ۸۹ـ۶۸۸هجري کال او ۱۲۹۱ کال د ۹۰ـ۶۸۹ هجري کال مطابق دے.

ښاغلي ډاکټر عبدالحليم د شيخ شرف الدين د والد صاحب شيخ يحيي د وفات کال ۱۲۱۰ء ليکلے دے. چې د ټائپ او طباعت غلطي معلوميږي صحيح به ۱۳۱۰ء (۱۰ـ۷۰۹ هجري) وي.

۲، ۲ الف. پښتو نسخې "علي الدين".

۳. زمونږ پښتو نسخې "بهار" ن ۶۹/۱ او ن ح جلد ۱ ص ۱۸۵ " . ډورن حصه ۱ ص ۵۹ "بار". "دي لودي سلتانز" ۱ ص۴۷ Barh. بارهـ. R=ړ.

باره (يا بارهــ) نومے قصبه د پټنې ضلعې (صوبه بهار) کښې له پټنې ښاره ۳۳ ميله خاتيز او د بهار قصبې نه ۲۲ ميله قطب ته ده. (ن ح جلد ۱ ص ۱۸۵ حاشيه ۲)

۴. د فارسي عبارت مفهوم دا دے چې سلطان سکندر چې د بهار له متعلقاتو تعلق پور ته ورسيد نو سلطان علاؤ الدين خپل زوے مخې ته وروليږلو (به استقبال فرستاد) سلطان سکندر ئې په مقابله محمود خان لودي او مبارک خان لوحاني وټاکل او په موضع باره الخ.

۵. يعنې په بخښنه. ''۔۔۔۔۔۔زکوٰۃ غله را در تمام قلمرو بخشيده و فرامين منع طلاة صادر فرمود۔''

۶ ''مردم خود''.

۷. ن ز ۱/۶۹ ''بتيه'' ۲/۶۹ ''پتنه'' ن ح جلد ۱ ص ۱۸۶ ''يتنه'' ((بهټه)). ډورن حصه ۱ ص ۵۹ ''پنه''.

د پنه علاقه په بنديلکنډ کښې د ريوه (بخواني بهټه چې د بګيلکنډ علاقه بلل شي) نه مغرب شمال ته ده.

۸. ن ز ۲/۶۹ ماندهو. باندهو ګړهـ. (د باندهو کوټ) په ريوه رياست کښې زوړ کوټ دے چې د درياب (بحر) له سطحې ۲۶۶۴ فټه بره په غرهٔ له ريوه ښاره ۶۰ ميله سهيل رويه پروت دے.

۹. ما پښتو عبارت کښې څهٔ لږ تصرف چې ضروري وهٔ وکړو. زما په مخکښې د فارسي نسخو (ن ز ۱/۶۹ او ن ح جلد ۱ ص ۱۸۷) عبارت داسې دے: ''درين اثنا حساب مبارک خان موجي خيل که بعد باربک شاه جونپور حواله او شده بود درميان آمد۔ مبارک خان هر چند خواست که به لطائف الحيل بگزراند و خوانين را شفيع ساخت فائده نه کرد حکم شد که حاصل چند سال را موافق بربست سلطاني باز يافت نمايند۔'' يعنې په ديو شپو ورځو کښې د مبارک خان موجي خيل چې پس له باربک شاه جونپور ورسپارلے شوے وهٔ حساب تر مينځه راغے. کهٔ هر څو مبارک خان غوښتل چې په هغه دغه ئې واړوي او خانان ئې (هم) سفارشيان کړل خو سود ئې ونهٔ کړو. حکم وشو چې د څو کالو بقايا ترې د باچهي قانون سره سمه وصول کړئ. (فرشته جلد ۱ ص ۱۸۲ ''موجي'' په ځائے د ''موجي خيل'' او ''موافق بندوبست'' په ځائے ''موافق بربست'' اګر کهٔ له دواړو هم يو مفهوم ولاړيږي خو بربست يعنې قاعده، دستور، آئين او قانون به زيات ښهٔ او موزون وي.)

پښتو عبارت: ''څو کاله پس مبارک شاه صوبه دار د جونپور چې څو کاله حواله و مبارک شاه وهٔ حساب کتاب د دې محال الخ.''

د تصرف باوجود په متن کښې د ترجمې ژبه بحال ساتلې شوې ده. صرف دغه پورتنی جمله چې مهمله ده د اصل فارسي عبارت په رڼا کښې بدله کړې شوه. او ''په اثنا

کښې" الفاظ علاوه کړي شول. (فرشته جلد ۱ ص ۱۸۲) ليکې چې پښتانهٔ اميران په دغه خبره خفه شوي وو. "ازين سبب امرائے افغان رنجش خاطر بہم رسانيده بودند."

۱۰. فارسي "روزے درآن ايام سلطان بچوگان بازی درآمده بود." د "روزے در آن ايام" په بنا ليندې ما زياتې کړې.

۱۰ الف. يا شغل، اشتغال؟

د فارسي نسخو ن ز، ن ح او فرشته په بنا ليندې ما زياتې کړې. "چوگان سليمان پسر دريا خان سروانی به چوگان هيبت خان خورد." يعنې د دريا خان سرواني د زوي سليمان چوگان د هيبت خان له چوگانه برابر شهٔ. ډورن هم بين القوسين حصه نهٔ لري. فرشته: دريا خان لودي او هيبت خان شرواني.

۱۲ کهٔ قوسين نهٔ وي نو دلته او مخکښې به عبارت مهمل وي.

۱۳. پښتو نسخې "دريا خان" خضر خان چې ورور د سليمان وهٔ نو زوے د دريا خان شهٔ. پلار به ئې نهٔ واههٔ بلکې هيبت خان چې د هغهٔ چوگان (اگر کهٔ په خطا) د سليمان په سر لگيدلے وهٔ.

۱۴. دلته پښتو ترجمه کښې هم هيبت خان چې له خضر خانه ئې گزار وخوړ او محمود خان او خان جهان ولگيدل دلاسه ئې کړو.

۱۵. مط ن ز و ن ح. فرشته محمود خان لودي و خان خانان. ډورن ص ۱ ص ۵۹ "سلطان هغه دلاسه کړ." د دې واقعې په حقله د ډورن د ترجمې متن هم ناقص دے او هغه غلطي لري چې کومې پښتو نسخو کښې دي. خو په متعلق نوټ کښې ئې د يوې بلې نسخې عبارت هم چې ترجمه کړے دے هغه زمونږ د فارسي نسخو عبارت سره سم دے. (وگورئ ن ز ۲/۶۹، ۱/۷۰ و ن ح جلد ۱ ص ۱۸۷، ۱۸۸ فرشته ص ۱۸۲ و ډورن حصه ۱ ص ۵۹ او تعليقات ص ۹۶ په تسلسل د دويمې حصې د صفحاتو.)

ص ۹۴

مط ن ز، ن ح، فرشته و ډورن. پښتو نسخې "مياشتو".

مط ن ز، ن ح. پښتو ترجمه "خضر خان" ډورن "دي ليټر" يعنې مؤخر الذکر چې د هغهٔ په ترجمه کښې خضر خان دے. د هغهٔ د ترجمې پښتو به داسې وي: شمس خان د هيبت خان يوهٔ نزدې خپلوان خضر خان عمداً الخ. نو مؤخر الذکر هم خضر خان دے. هرکله چې دا ځل مجرم شمس خان وهٔ چې خضر خان ئې په سر وهلے وهٔ نو خضر خان له د سزا ورکولو څهٔ مطلب. (ن ز ۱/۷۰ ن ح جلد ۱ ص ۱۸۸ فرشته ص ۱۸۲ ډورن حصه ۱ ص ۵۹)

په دې بيان کښې د پښتو نسخو او ډورن د ترجمې له رويه د سليمان له سره پټکے لويدلے وۀ او د فارسي نسخو (سره د فرشته) د بيان له رويه ئې سر شليدلے وۀ. (بشکست، مات شو) خو لکه چې مونږ په ص ۶۳ نوټ ۱۵ کښې وضاحت کړے دے د ډورن د متعلق نوټ مضمون د ن ز، ن ح او فرشته مطابق دے.

۳. مط ن ب. ن ز ۷۰/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۱۸۸. ن ا "مکر او غدر".

۴. فرشته (جلد ۱ ص ۱۸۲) د دې بند پيوند مشر هيبت خان شرواني (يا سرواني) د دوؤ نورو سردارانو په اتفاق کښې.

۴ الف. فرشته جلد ۱ ص ۱۸۳ "شيخ طاهر کابلي" منتخب التواريخ اردو ترجمه ص ۲۰۹ "شيح طاهر". ډورن حصه ۱ ص ۶۰ "شيخ ظاهر کابلي.

۵. مط ن ب. ن ا "له دغدغې".

۶ اګر کۀ په پولو (چوګان) کښې دوه ځله د خنو اميرانو د بدتميزی د واقعې د ذکر نه پس خو پښتو نسخې صرف دومره وائي چې له هغه پسه سلطان خپل باوري کسان په څوکي ودرول خو فارسي نسخې سره د فرشته او ډورن خبره څۀ زياته صفا کوي او وائي چې "سلطان دلگير شده برگشت و به محل تشريف برد و بعد از ان به امرا بدظنه شد" يعنې سلطان خفه راستون شو محل ته ئې تشريف يوړو او په اميرانو بدګمانه شو. (ن ز ۷۰/۱ ن ح جلد ۱ ص ۱۸۸، فرشته جلد ص ۱۸۲ و ډورن حصه ۱ ص ۵۹ اخري دوه کرښې او ص ۶۰) خصوصاً د فرشته بيان نور هم واضح دے هغه وائي چې د مبارک خان د معاملې په وجه خانان خفه شوي وو او بيا د وراني مونږ هيبت خان او د هغۀ ملګري بيانوي. هر کله چې د هيبت خان چوګان د سليمان له چوګانه برابر شۀ او د سليمان په سر ولګيد نو دا ګمان به بې ځايه نۀ وي چې نۀ صرف د خضر خان انتقامي ګزار له قصده (جهت انتقام قصداً) وۀ بلکې هيبت خان دا تماشه هم له قصده جوړ کړي وه. والله اعلم بالصواب.

۷. مط ن ح جلد ۱ ص ۱۸۹ و ډورن حصه ۱ ص ۶۰ و ن ب و فرشته جلد ۱ ص ۱۸۲. ن ا "انصو پنخوس". ن ز ۷۰/۱ "۹۰۰۵" ليکن حرفونو کښې ئې صحيح تاريخ "خمس و تسع مائة" ور کړے دے.

۸، ا، ب. فارسي عبارت (ن ز ۷۰/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۱۸۹) داسې دے "وچون هوائے آن مکان موافق طبع شريف سلطان آمده بود وشکار فراوان داشت" يعنې او هر کله چې د هغه ځائے هوا د سلطان له طبعې مبارکې سمه وه او ښکار (ئې هم) ډېر وۀ.

۹. د شيخ جمالي مفصل احوال به ان شآء الله د سلطان سکندر د عهد د احوالو په خاتمه په

متعلق نوټ کښې بیان شي.

مــط ن ز ۲/۷۰ و ن ح جـلــد ۱ ص ۱۸۹. ن ا "مـاچهـیے واړه" ن ب "مـاچي وار".
مـاچیواړه قصبه د موجوده مشرقي پنجاب د لدهیانې ضلعې د صدر مقام لدهیانې ښار نه د ۲۷ میلو په فاصله ده. (دي لودي سلتانز ص ۷۸ حاشیه ۲).

۱۱. "یا خبره واوریده" لکه ن ب.

پښتـو عبارت "پخوا تر ورتلو د خواص خان خپل زوے ئې په ملازمت سراسر سعادت روان کړ." یعنې اصغر پخپله لاړ نهٔ شهٔ. زوے ئې روان کړ. د ډورن حصه ۱ ص ۲۰ د ترجمې هم دغه مطلب دے خو د ن ز ۲/۷۰ او ن ح جلد ۱ ص ۱۹۰ (چې فرشته هم ورسره قطع نظر له لږ لفظي تغیره متفق دے. عبارت داسې دے ''اصغر این خبر استماع نموده پیش از رسیدن خواص خان در شب شنبه ماه صفر سنه ۹۰۶ ستة وتسعمایه از دهلی روانه شد و در سنبهل به ملازمت سلطان رسید و بموجب امر در قید گرفتار شد.'' یعنې اصغر وړومبے د خـواص خـان لـه ورسیـدو د خـالي په شپه میاشت صفر ۹۰۶ هجري (انهٔ سوه شپږ له دهلیه روان شـو او په سنبهل کښې د سلطان خدمت ته ورورسید او سم له حکمه په بند کړے شو.
فرشته جلد ۱ زما د وړاندې نسخه ص ۱۸۲ او هم ن ح د فاضل محشي د وړاندې نسخه جلد ۱ ص ۳۳۵ (لـکـه چې بـه لـه متـعـلـقې حاشیې جوته وي.) د سته و تسعمایه په ځائے سبع و تسعمایه.

ص ۶۵

ن ز ۲/۷۰ "واه". رائے. ''نهال نام خواجه سرائے خودرا الخ''. ن ح جـلـد ۱ ص ۱۹۰ ''راجه گوالیار نهال نام خواجه سرائے خودرا'' فرشته جلد ۱ ص ۱۸۳ ''راجه مان سنگهه راجۂ گوالیار نهال نام خواجه سرائے خودرا.'' ډورن حصه ۱ ص ۶۰ "راجه مان د گوالیار له خپلو مصاحبانو attendant یو نهال الخ."

۲. د شـمـس آبـاد قـصبـه د یـو پـي د فـرخ آباد یا فتح گړهـ ضلع کښې له فرخ آباده قطب لویدیز ته ۱۸ میله ده.

۲ الف. ن ب "حلیر". جلیسر دهاره و گوری ص ۶۰ نوټ ۳.

۳، ۳الف. ډورن حصه ۱ ص ۶۱ "تملوک او نورې ضلعې".

مـنـگـلـور د سر کار سهارن پور صوبه دهلي ځنې وهٔ. اوس د ضـع سهارن پور روړکي تحصیل کښې له روړکي شپږ میله سهیل ته دے.

شاه آباد د ن ح فـاضـل محشي لیکي چې د شاه آباد زوړ نوم لکهنور دے چې اوس دا ښار د هـردوئـي ضـلعې تحصیل دے. (جلد ۱ ص ۱۹۱ حاشیه ۳ په حواله د امپیریل گزټیر جلد ۲۲ ص ۱۹۷). ډاکټر عبدالحلیم لیکي چې د شاه آباد د نامې ډیر ځایونه دي چې دوه ترې په

يو پي کښې دي. يو په رامپور رياست کښې او دويم په هردوئي ضلع کښې او دلته ترې ورومبے خائے مراد دے. (دي لودي سلطانز ص ۶۷ حاشيه ۴ په ص ۸۰) د شاه آباد د نامې په هندوستان کښې ډير ځايونه دي مثلاً (۱) په مغربي خانديس صوبه بمبئ کښې يوه قصبه (امپيريل گزئټير جلد ۲۲ ص ۱۹۸) (۲) د حيدر آباد رياست په گلبرگ ضلع کښې يوه قصبه (ايضاً ص ۱۹۷، ۱۹۸) (۳) د مشرقي پنجاب د کرنال ضلعې په تهانيسر تحصيل کښې يوه قصبه چې د سلطان شهاب الدين غوري له تابعينو چا اباده کړې وه. (ايضاً ص ۱۹۸) (۴) د يو پي د هردوئي ضلعې د شاه آباد تحصيل يوه قصبه چې په ۱۶۷۶ء کښې د شاهجهان افغان منصبدار نواب دلير خان آباده کړې وه. (ايضاً ص ۱۹۶-۱۹۷) (۵) د رامپور رياست د شاه آباد تحصيل د يوې قصبې نوم چې ورومبے به ئې ورته لکهنور وے. او د کتهريه راجگانو دارالحکومت وۀ. ايضاً ص ۱۹۷) تر څو چې د (۱) او (۲) تعلق دے نو له بحثه خارج دي. تر څو چې د لکهنور تعلق دے نو دا به ئې (۵) ته وئيل نۀ (۴) ته لکه چې د ن ح فاضل محشي په غلطئ ليکلي دي اوس دا سوال پاتې شو چې په (۳)، (۴)، (۵) کښې کوم يو د نظر د لاندې ځاے دے (۴) هم په دې وجه له بحثه خارج دے. چې د هردوئي د ضلعې شاه آباد نومے قصبه کۀ د تاريخ خان جهاني، مخزن افغاني او تاريخ فرشته وغيره ۏ کتابونو د تاليف په وخت کښې وه او کۀ نه هغه وخت په دغه نامه نۀ شوه بللے لکه چې د ضلع هردوئي د شاه آباد د ابادی د حال نه معلوميږي (او په راتلونکو صفحو کښې به تاسو د روهيله ۏ خانانو په حال کښې ولولئ.) دغه قصبه جلال داؤدزي المخاطب به نواب دلير خان روهيله په عهد عالمگيري کښې په ۱۰۸۷ هجري (۱۶۷۷ء) کښې د زوړ کلي انگی کهيړه په محل وقوع آباده کړې وه. د تاريخ خان جهاني، مخزن افغاني تاليف په ذي الحجه ۱۰۲۱ هجري (۱۶۱۳ء) کښې مکمل شوے دے او لکه چې د جلال (وروستو نواب دلير خان) له حالاتو معلوميږي چې په مخ به ئې په دغه نوټونو کښې تاسو مفصل ولولئ. هغه غالباً ۳۰-۱۰۲۹ هجري کښې پيدا شوے وۀ اگر کۀ (ن ح جلد ۲ په ضميمه الف ص ۸۷۱-۸۷۹) کښې په ص ۸۷۳ د دريا خان داؤدزي باقلزي (باقرزي) په زامنو کښې د بهادر خان او دليل خان نامې راځي او هم د دلير خان په ځائے دليل خان ليکلي شوي دي حال دا چې د جلال په ۱۰۲۱ هجري کښې دلير خان کيدل خو يو خوا ته چې پيدا هم نۀ وۀ او مشر ورور سر ابدال ئې هم په دغه وخت بهادر خان نۀ وۀ نو معلوميږي چې دا د تاليف نه د ډير وروستو اضافې دي. پاتې شو (۳) او (۵) نو لکه چې ډاکټر عبدالحليم ليکي اغلبه ده چې (۵) دے خو له امکانه (۳) هم بهر نۀ دے.

۴. پښتنو نسخې "خواجه بتن". ن ز ۱/۷۱ "خواجه بين" او لکه چې ن ح ص ۱۹۲ حاشيه ۳ کښې حواله ده په طبقات اکبري جلد ۱ ص ۳۲۴ کښې "خواجه بين" د برګز تاريخ فرشته جلد ۱ ص ۵۷۸ کښې هم "خواجه بين" او د طبقات اکبري انګريزي ترجمه جلد ۱ ص ۳۷۰ کښې "خواجه بين" دے زما په مخکښې تاريخ فرشته جلد ۱ ص ۱۸۳ "خواجه بين". د ن ح متن "خواجه بين" ډورن حصه ۱ ص ۶۱ هم "خواجه بين".

ص ۶۶

فارسي عبارت : ''سلطان بعد از صلح بہ صوب آگرہ معاودت نمود بہ دھولپور رسید آن محال را نیز بہ راجہ مانکد یو بخشید و بہ بیانہ کہ مستقر سریر خلافت بود تشریف آورد۔'' سلطان پس له صلحې اګرې ته وجاروت او (په لاره کښې) چې دهولپور ته ورسيد نو هغه محال ئې هم راجه مانکديو ته وروبخښلو او بيانې ته چې د خلافت د تخت ځائے وۀ تشريف ئې راوړ. (ن ز ۲/۷۱ ن ح جلد ۱ ص ۱۹۲، ۱۹۳) په ترجمه کښې قوسين ما د وضاحت دپاره علاوه کړل. سلطان به له ګواليارہ اګرې طرف ته د تلو دپاره لـه سهيله تقريباً نيغ قطب ته تللو. او وروميے به دهولپور ته رسيدو چې د اګرې او ګواليار تر مينځه وروستي ځائے ته مقابلتاً زيات نزدې دے. فارسي عبارت کښې هم اګرې ته د تګ يا رسيدو ذکر نشته. صرف هغه طرف (صوب) ته د جاروتو (معاودت) بيان دے. نو کۀ لـه دهولپوره بيانې ته تلے وي نو وروميے به څۀ مغرب رويه او بيا شمال مشرق رويه تلے وي او کۀ نه وروميے اګرې ته تلے وي نو دهولپور نه پوره (قطب) ته به ئې بيانه کين لاس (لويديز) ته پريښے وي. او بيا به له اګرې جنوب مغرب رويه بيانې وته راغلے وي. [ډاکټر پانډے (ارلي ميډيول انډيا ص ۳۷۱) بيانه د دهلي نه جنوب مشرق ته ليکي او د ص ۷۶ مخامخ نقشه کښې ئې د دهلي نه جنوب ته څۀ خو مشرق ته ښونيدلے غونډې ښئيلے ده خو له دهليه هم بيانه جنوب څخو مغرب ته ده.]

ډاکټر عبدالحليم په دې عبارت تنقيد کونکے وائي چې غير واضح دے او د نورو مؤرخانو بيان ته حواله کوي چې سلطان د بارانۀ موسم په اګره کښې تير کړے وۀ. (دي لودي سلطانز).

پـه دې باب د فرشته (جلد ۱ ص ۱۵۳) عبارت له تاريخي نقطۀ نظره اهم او د غور وړ دے. وائي ''علم مراجعت برافراشتہ چون در دھولپور رسید آنرا نیز بہ نبا یکدیو بخشید و بہ آگرہ آمدہ آن بلدہ را کہ در تحت بیانہ بود در زمان کفر و اسلام ہرگز تخت نشین نہ شدہ بود جہت تسخیر گوالیار و نزد رپایہ تخت ساختہ حصار سیر را کہ بہ دہلی تو شہرت یافتہ بود ترک داد و موسم برسات الخ'' يعنې د جاروتنې نښان جګ کړے چې دهولپور ته ورسيد نو هغه ئې هم نبايکديو (مانکديو) ته وروبخښلو او اګرې ته راغلو. او هغه ښاريه چې د بيانې لاندې وه او نۀ د کفر او

نهٔ د اسلام پـه وخـت چـري پايه تخت گرځيدلي وه. د گواليار او نرور د نيوز په نيت ئي پايه تخت کړه او د سير کوټ ئي چې په نوي دهلي ئي شهرت بياموندے وۀ پريښ او د بارانۀ موده الخ.

سيـر يـا سيـري د زوړ دهلي نه ورته جختته قطب ته پرته ده. وگورئ د پروفيسر سري واستاوا "دي سلتينټ آو ډيلهي" ص ۳۵۰ـ۳۵۱ ترمينځه نقشه.

اگـر کۀ يوۀ وخت بيانه له اگرې زياته اهمه وه او اگره ئي له توابعو وه. خو بيانه چري نۀ خو د سلطانانو او نۀ د مغلو باچهانو په وخت پايه تخت وۀ.

۲. مـط ن ز ۲/۷۲/۱ ن ح جـلـد ۱ ص ۱۹۴ فـرشته جلد ۱ ص ۱۸۳ و منتخب التواريخ اردو تـرجـمـه ص ۲۱۰ پښتـو نسخې انصو اووۀ. ډورن جلد ۱ ص ٦١ "۹۰۱" او په نوټونو ص ۹۲ پـه تـسلـسـل د دويـمې برخې د صفحو) کښې د يوې بلې نسخې په بنا "د رمضان مياشت ۹۰۰" ۹۰۰ او ۹۰۱ خو ښکـاره دے دې دپـاره هـم غلط دې چې وړومبے د ۹۰٦ واقعات بيـان شـوي دي هـر کـلـه چې په اصل فارسي نسخو او هم په فرشته او منتخب التواريخ کښې ۹۱۰ دے. نـو مـا هـم دا غوره کړو ډاکټر عبدالحليم هم ۹۱۰ (۱۵۰۴ء) ليکي. "دي لودي سـلـټانز" (ص ۸۲) منتخب التواريخ (اردو ترجمه) د مندرايل د مهم په ۹۱۰هجري کښې د ذکـر کـولـو نه پس د سيد محمد جونپوري د مرگ د ذکر په لړ کښې وائي چې هم دغه کال (اسي سال) په ۹۰۰ کښې الخ. خو کۀ د "اسي سال" هم معنیٰ توري په اصل کښې وي هم نو غـلـط بـه وي. د سيد محمد جونپوري (چې مريدانو ئي په مهدي مشهور کړے وۀ) د وفات د تـاريـخ مـاده "مـضاء مهدي" (۹۰۰) ده او هم دغه کال ئي د وفات منتخب التواريخ ورکوي. کۀ پـه اردو تـرجـمو کښې ۹۱۰ د ۹۰۱ په ځائے هم چاپ شوے وي نو بيا هم دغه کال او د سيـد محمد جونپوري د مرينې کال کۀ هم ۹۰۰ وي يو نۀ شي کيدے. خو د منتخب التواريخ انـگـريـزي تـرجـمـه کښـې صرف د هم "دغه کال" الخ لفظونه دي. ۹۰۰ ورسره نشته. او د وفـات دوه تـاريـخـو: ﻫ "بـروز شيخ کن استفسار" له په مضيٰ کښې ے او مد (په طور د الف) دواړه محسوب شي بغير د مد نه به ۹۰۹ وي او چې يو د مد عدد ورسره شي نو ۹۱۰ به شي.

۳. مـنـدرائيـل د مـغـل اکـبـر بـاچـا پـه وخت کښې د سرکار او صوبه اگره خاص قصبه وه. مـندرائيل د کرولي په رياست کښې د کرولي نه ۱۲ ميله سهيل خاتيز ته د چنبل سيند په غاړه پـروت دے. (ن ح جـلـد ۱ ص ۱۹۴ حـاشيـه ۱) ښاغلے ډاکټر عبدالحليم ئي محل وقوع له گـواليـاره ٦۲ ميـلـه مغرب رويه د پاربتي سيند په ښي غاړه ليکي. (دي لودي سلټانز ص ۸۲ حـاشيـه ۲) د مـنتـخـب التـواريخ انگريزي ترجمې جلد ۱ ص ۴۲۰ حاشيه ۵ هم مندرائيل د

چنبل سیند د مغربي غاړې نه د دوؤ میلو په فاصله د کرولی نه ۱۲ میله جنوب څخو خاتیز ته بنیي. د کرولي رياست د ګوالیار د رياست يوې شمال مغربي ضلعې شیوپور سره لګیږي او تـرې شـمـال تـه پـروت دے. ورسـره پیوست ترې شمال مشرق ته د دهولپور رياست دے او شـمـال تـه تـرې ورسـره پیوست د بهرت پور ریاست (وګوری د هندوستان د صوبو او ضلعو نـقشه ۱۹۱۵ء) د کرولي بنار د ګوالیار له بناره شمال مغرب د اګرې له بناره او ترې جنوباً د دهـولپـور لـه بنـاره لـه دوارو جـنـوب مغرب ته دے. (وګوری روډ میپ آو انډیا ۱۹۲۸ء او د الفنستن "دي هستري آو انډیا" سره منسلکه نقشه).

۴. ن ز ۲/۷۲ ن ح جـلد ۱ ص ۱۹۴ "بہ سریر سلطنت بیانہ معاودت نمود" فـرشتـه جلد ۱ ص ۱۸۳ "ـــــ و بعد از ان خود رفتہ قلعہ مندرائیل را محاصرہ فرمود و اہل قلعہ امان خواستہ قلعہ را سپردند ــــ علم مراجعت برافراشت و چون بہ دہولپور رسید قلعہ را از نبایک دیو تغییر نمودہ بہ شیخ قمر الدین سپرد و خود بہ آگرہ آمد." یعنې او له هغه پسه پـخپله لاړ او د مـنـدرائیـل کوټ ئې محاصره کړ د کوټ عالمو امان وغوښت او کوټ ئې ورو سپارهٔ.... د جـاروتـنـې نبنان ئې جګ کړ او چې دهولپور ته ورسید نو کوټ ئې له نبایک دیو (مانکدیو) واخست او شیخ قمر الدین ته ئې وسپارهٔ او پخپله اګرې ته راغـے.

۵. ن ز ۱/۷۲ ن ح جلد ۱ ص ۱۹۴؛ "تپ محرق".

۶ د ډورن حـصـه ۱ ص ۶۱، ۶۲ انـګریزي ترجمه تقریباً هم دغه شان ده لکه د الفضل خان پښتو تـرجـمـه. ګـوندې د دوارو مترجمانو د یو شان نسخې نه ترجمه کړے وي. (د ډورن د نـوټ حـوالـه راتـلـونـکـې ده) ن ز ۲،۱/۷۲ او ن ح جلد ۱ ص ۱۹۵ څهٔ نور تفصیلات هم ورکـوي. د سـلـطـان د سرو د ځائے د خوښولو او سلطان ته د عرض کولو د ذکر نه پس وائي چې "سلطان پخپله له دهلیه کوچ وکړ د متهرا (د دهلي او اګزې د جمنا سیند په غاړه اباد یو تـاریـخـي بنـار دے چې هـندوان ئې ډیر مقدس ګڼي) قصبې ته راغـے او له هغه ځایه په کشتۍ کښـې تـفـریـح، سیـر او ښـکار کونکے دغه ځائے ته چې اوس پرې آګره آباده ده راورسید او غـونـډۍ ئې د آبادۍ لائقه وخیرله د مانګو له مشره ئې چې نائک نومیدو او باچهي کشتۍ ئې چـلوله پوښتنه وکړه چې له دغو دوؤ غونډو کومه یوه زیاته ښه ده. نائک ووې چې اګره یعنې مخکښنیني. سلطان وموسیدو او وې وئیل چې د دغه ښار نوم دې هم اګره وي...."

د فـارسي عبارت اخرې برخه داسې ده : "نائک گفت بلندی کہ آگرہ است یعني بلندیٔ پیش نگواست."

یعنې نائک ووې چې غونډۍ چې اګره ده یعنې مخکښنیني غونډۍ ښه ده.

سـلـطـان او نـائک ګـونـدې هـندی کښې خبرې کولے او نائک د غونډۍ یا بلندۍ دپـاره د هندی څهٔ داسې تورے پکارولے وهٔ چې صیغه ئې مذکر وه لکه ټیله او صفت ئې هم د

ذکر صیغه کښې "آگره" راوړ چې مؤنث به ئې "آگرې" وي. کۀ دغه واقعه صحيح وي نو هغه وړوکے قصبه یا کلے چې هم په دغه خواؤشا کښې آباد او د بیانې له توابعو وۀ او مؤرخانو د سلطان سکندر د ښار د آبادۍ نه اګاهو هم د اګرې په نامه یاد کړے دے د دغه نوي ښار د ابادۍ نه وړومبے به ئې څۀ بله نامه وه. والله اعلم بالصواب.

د ن ح فاضل محشي (جلد ۱ ص ۱۹۵ حاشیه ۳) د دې واقعې په لړ کښې لیکي چې ډورن دا واقعه ډیره مختصره لیکلې ده. او د نائک ذکر ئې نۀ دے کړے. خو لکه چې ما د دې نوټ په ابتدا کښې په فوسینو کښې اشاره کړې ده ډورن په دې واقعه نوټ لیکلے دے چې د یوې بلې نسخې په عبارت بنا لرې. (تعلیقات ص ۹۷) چې پکښې دغه واقعه هم دغسې په تفصیل راغلې ده لکه چې مونږه بره نقل کړه. فاضل مستشرق د اګره ترجمه بې فور اس Before us یعنې زمونږ د وړاندې یا زمونږ مخامخ کړې ده. لکه چې په فارسي عبارت کښې د پیش (د "پس" عکس) نه ښکاري لفظ اګره یا اګلا د پچهلا د عکس په معنو کښې استعمال شوے دے لکه چې په دغه صورت کښې به د اګره معنیٰ مخکښینی وي نو د پچهلا وروستنی یا شاتنی. خو اګره د پړله یعنې وریښتنے او هغه خوانے په معنیٰ هم استعمالیدے شي. نو څۀ لغت تضاد غوندې دے او د مخامخ، مخکښنے او په داسې صورت کښې د رابشتنے معنې هم ورکوي او په بل صورت کښې به د وریشتنے هم معنیٰ وي. بلکې دغه اشتباه په پښتو کښې د مخکښینے او وړاندینے نه هم پیدا کیږي. اندازه به ئې د موقعې او تړل مضمون نه کیږي.

۷. چنیاور یا چیتاور، چتاور یا چنتاور. د سرکار ګوالیار له توابعو چې پکښې لويه قلعه وه. (ن ح جلد ۱ ص ۱۹۸ حاشیه ۲ "دي لودي سلتانز" ص ۸۵ حاشیه ۳) او وګورئ د راتلونکې صفحې ص ٦۷ نوټونه.

۸. وګورئ د راتلونکې صفحې ٦۷ نوټونه.

ص ٦۷

۱. ۱ الف. (په تسلسل د ص ٦٦ نوټ ۷، ۸) : (۱) ډورن (حصه ۱ ص ٦۲) انګریزي او الفضل خان پښتو ترجمه یو شان ده. سوا له دې چې وړومبی کښې چنیاور یا چنتاور وغیره ذکر او د ګوالیار د راجه نوم (مان یا مان سنګهه) نشته. خو په تعلیقاتو کښې د یوې بلې نسخې نه نقل شوي عبارت کښې چنور راغي.

۲. مط ن ح جلد ۱ ص ۱۹۹ پښتو کښې دوه ځله "انوپکر" او یو ځل "انوپ نګر". ن ز ۲/۷۳ "اوتنګر" ۱/۷۵ "اونتګر". فرشته جلد ۱ ص ۱۸۳ "اودیت نګر" او "هنونت

گړهـ". ډورن حصه ۱ ص ۶۲ "تیهنکر". اونت گړهـ. د مغل اکبر باچا په عهد کښې د مندرائیل له توابعو وۀ. اوس د کرولي ریاست په حدودو کښې کرولي سهیل لویدیز ته ۲۸ میله د نرور او گوالیار ترمینځه واقع دے. (ن ح جلد ۱ ص ۱۹۹ حاشیه ۲) ډاکټر عبدالحلیم د انت کرهـ یا اونت گړهـ متبادل نومونه اتگر، یا اتکر (وگوری د تلفظ دپاره هدایات د ص ۱۷ نه پس دویمه پانه) لیکي او وائي چې د کرولي ریاست تحصیلي قصبه ده. (دي لودي سلتانز ص ۸۶ حاشیه ۱) د منتخب التواریخ انگریزي ترجمې جلد ۱ محشي وائي چې دا نوم په موجوده نقشو کښې نشته او پکښې د دغه نوم په ځائے ديو گړهـ لیکلے دے. (ص ۴۲۲ حاشیه ۲) دیو گړهـ لکه چې د الفنستن "دي هستري آو انډیا" سره لگیدلے نقشې نه ښکاري هم د کرولي په حدودو کښې له کرولي جنوب مغرب ته دے.

د اگرې د بنا د ذکر نه پس د فارسي نسخو د بیان خلاصه:

(الف) سلطان دهولپور ته خې قلعه ئې له مانکدیوه اخلې او ملک معز الدین ته ئې ورکوي. (ص ۲۶ سره مقابله وکړئ)

(ب) اگرې ته راشي امیرانو ته جاگیرونه بخښي.

(ج) په ۳ تاریخ د صفر ۹۱۱ هجري په اگره کښې یو لوے درینځے (عظیمه زلزله) راځي. د دې زلزلې تاریخ د مخزن افغاني، تاریخ خان جهاني په فارسي نسخو کښې "قاضي" لیکلے دے. او په منتخب التواریخ کښې قاضي او د لاندینی قطعې په شکل:

در نهصد و احدی عشر از زلزله ها　　　گردید سواد آگره چون مرحلها
با آنکه بنا هاش بے عالی بود　　　زلزله شد عالیها و سافلها

(د) د ۹۱۱ هجري په اواخر کښې د گوالیار په لوري د جهاد نیت کوي دهولپور کښې یوه نیمه میاشت تیرولو نه پس د چنبل سیند د کور (یا گوړ) گودر ته رسي.

(هـ) شهزاده جلال خان او نورو امراؤ چې د جهاد دپاره لیږلي شوي وو ډیر کفار قتل بندي او تالا ترغه کړل.

(و) د ښنجاره ؤ د نۀ رسیدو په وجه د غلې د کمي لړې کولو سلطان بند پیوند کوي.

(ز) سلطان چنداور (یا چنتاور) ته رسي. (فرشته جلد ۱ ص ۱۸۳ "گزر کو کهه او موضع جنور) راجالے مقابله کوي. او شکست خوري.

(ح) د اوتنگر (اونت گړهـ) مهم. (ن ز ۲/۷۲، ۲/۷۳، ۲۰۱ ن ح جلد ۱ ص ۱۹۶ تر ۱۹۹)

د ن ح فاضل محشي (جلد ۱ ص ۱۹۷ حاشیه ۲) وائي چې ډورن د "گزرگور" ذکر نۀ کوي. لکه چې عرض وشو د ډورن د ترجمې متن (کۀ د متن استعمال موزون وي) کښې

خو نۀ د "گور" او نۀ د "چناور" ذکر شته خو نوټ ئې د چنور ذکر لري. او د "کرګه" ګودر هم يادوي. زمونږ پښتو ترجمه کښې د چناور نوم خو شته خو د ګوړ ګودر نۀ دے ياد شوے. پښتو ترجمه کښې انوبکر (دوه ځلې) او انوپ نګر يو ځل دے خو صحيح نۀ دے انوپ نګر جدا ځائے دے چې د بيکانير رياست د صورت ګړهـ نظامت يو ذيلي قسمت (ويش) دے چې صدر مقام ئې انوپ ګړهـ دے. (امپيريل ګزټيير جلد ۵ ص ۳۸۷) د بيکانير علاقه د بهاولپور (پاکستان) له علاقې جنوب مشرق او د حصار ضلعې (مشرقي پنجاب هندوستان) چې محل وقوع ئې وښودلے شو. ن ز د اونت ګړهـ د مهم کال ۹۱۳ هجري الثي عشر و تسعمايه کښلے دے. په هندسو کښې سن غلط او په الفاظو کښې ۹۱۲ صحيح دے.

۲. ن ز ۴۷/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۰۱ "سلطان بعد از فتح لوازم لشکر بتقديم رسانيده قلعه را حوالۀ مکن و مجاهد خان نمود تا بتخانه ها را خراب ساخته بنائے مساجد نهادند۔ وچون بعرض سلطان رسانيده بودند که مجاهد خان از راجه او تنګر رشوت ګرفته بنا برآن سلطان را بګردانيدن از ين ولايت عرض نمونده بود۔ ازان سبب سلطان بتاريخ شانزدهم محرم ۹۱۳ هجری ثلث وعشر وتسعمايه مولانا جمن خاص حاجب را که از جمله مخلصان مجاهد خان بود مقيد ساخته قلعه را بملک تاج الدين سپرده به خوانين که در دهولپور بودند حکم صادر شد که مجاهد خان را مقيد سازند۔"

او هم وګورئ فرشته جلد ۱ ص ۱۸۴ فرشته د مولانا جمن په ځائے ملا چمن د ملک تاج الدين په ځائے ملک تاج الدين کنبوه او د عبارت په شروع کښې د قلعه را حوالۀ مکن ومجاهد خان" په ځائے قلعه را به بهيکن خان پسر مجاهد خان سپرد." ن ز د مولانا جمن په ځائے مولانا خمن.

د عبارت مطلب دا دے چې پس له فتحې د خدائے تعالې د شکر ادا کولو د لوازماتو د پوره کولو نه پس ئې کوټ مکن او مجاهد خان (يا د فرشته له رويه بهيکن خان زوي د مجاهد خان) ته وسپارلو. چې بتخانې ورانې او جماعت جوړ کا. او هر کله چې سلطان ته عرض کړے شوے وۀ چې مجاهد خان د اونت ګړهـ له راجا بډې اخستے دي او (د دې دپاره ئې) له هغه ملکه سلطان ته د جاروتو دپاره وئيلي وو نو له دې قبله سلطان په ۱۶ محرم ۹۱۳ هجري مولانا جمن خاص پرده دار (نزدې او واکمن مصاحب) چې د مجاهد خان له مخلصانو څخه وۀ په بند کړو او کوټ ئې ملک تاج الدين ته وسپارلو او په دهولپور کښې ميشته خانانو ته حکم وشو چې مجاهد خان بندي کړي.

د ډورن حصه ۱ ص ۶۲ انګريزي او زمونږ پښتو ترجمه يو شان ده. خو د برني فارسي عبارت مضمون له يوې بلې نسخې ډورن په تعليقاتو کښې ور کړے دے. (ص ۹۷ د ترجمې د ص ۶۲ په يو ديرشم سطر کښې ليکلے شوے نوټ) خو په دې نوټ کښې د خاص

حاجب په ځائې خاص صاحب دے.

د ن ز او ن ح (او هم د فرشته) او بله اهمه خبره دا ده (د راجپوتانو د رسم جوهر يعني د خان او اهل و عيال د مړولو د دستور نه پس) چې ''درين اثنا تيرے به چشم ملک علاء الدين رسيد و بے نور گشت.'' يعني په دا مينځ كښې يو غشے د ملک علاء الدين په ستر گه سم شو او ړنده ئې كړه. د دې واقعې ذكر هم ډورن په تعليقاتو كښې كوي. (ص ۹۷ د ترجمې د ص ۶۲ په اووېشتم سطر نوټ).

۳. ن ب ''له تشنگی''

۴، ۴ الف. پښتو نسخې ''انصو ديرش''. د فارسي نسخو له رويه سلطان د محرم په اواخر كښې هم دغه كال (يعني وړومبے بيان شوے كال ۹۱۳ هجري د مجاهد خان د غدر په سلسله كښې) اگرې لورې ته كوچ وفرمايئ ډېر خلق او څناور د اوبو د كمې او څنې پس له تندې د ډيرو اوبو څښلو په وجه ومړل. اتهٔ سوه مړي حساب شول. [خلائق از بے آبي و كثرت هجوم حيوانات تلف شدند و بهائے يک كوزه آب به پانزده تنگه سكندري رسيد و بعضے از بے آبي مردند و فرقه اے كه آب مي يافتند بواسطه تشنگي چندان مي خوردند كه مردند. چون حساب كردند هشت صد كس بقلم آمد الخ''] په ۲۷ سلطان دهولپور ته راغے او په پس له څو ورځو ئې اگرې ته تشريف يوړ. د بارانهٔ موده ئې تيره كړه او د سهيل د ختو په وړومبو ورځو كښې د نروړ قلعې ته چې د مالوې له توابعو وه (قلعه نرور از توابع مالوه) متوجه شو. (ن ز ۲،۱/۷۴ ن ح جلد ۱ ص ۲۰۲)

نروړ د اكبر باچا په وخت كښې د اگرې د صوبې له توابعو وهٔ. اوس د گواليار په رياست كښې د گواليار له ښاره ۴۴ ميله سهيل ته دے. (ن ح جلد ۱ ص ۲۰۲ حاشيه ۲)

ډاكټر عبدالحليم د بره ياد شوي نقصان د سړو او حيواناتو د مړينې ذكر كونكے وائي: ... چې محفوظ مقام ته په رسيدو حسب الحكم سلطاني شمير وشو نو صرف اتهٔ سوه سړي راټول شول.'' په دې باب د مخزن افغاني، تاريخ خان جهاني اصل فارسي الفاظ خو تاسو وخيرل چې زما په نزد ئې مطلب دا دے چې د مړو گڼه اتهٔ سوه وه. او ډورن ئې هم په تعليقاتو (ص ۹۷ په سطر ۱۳ نوټ) كښې هم دغسې ترجمه كړې ده. د فرشته زما په مخكښې ايډيشن كښې الفاظ دا دي: ''وچون حسب الحكم سلطان مرده ها را شمردند هشت صد كس بقلم آمد.'' يعني او چې د سلطان په امر ئې سړي وشميرل نو اتهٔ سوه كسه تر قلمه راغلل. زما په مخكښې د تاريخ فرشته د اردو ترجمې (له عبدالحئ خواجه) جلد ۱ ص ۵۹۹ دغه ځائې داسې دے.
''لاشوں کی تعداد شمار کرنے پر آٹھ سو ہو گئی تھی.''

۵. فارسي نسخې (ن ز ۲/۷۴ ن ح جلد ۱ ص ۲۰۳) دلته لفظ ''شهزاده'' نهٔ لري خو په

مخ (ن ز ۷۵/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۰۳) "جلال خان شهزاده که برادر سلطان بود." يعني جلال خان شهزاده چې د سلطان ورور وۀ.

ډورن جلد ۱ ص ۶۲ "جلال خان د کالپي ګورنر" ص ۶۳ "جلال خان" او "شهزاده جلال الدين" نوټ د ص ۶۲ سطر ۳ په حقله د تعليقاتو په ۹۷ او ۹۸ : "جلال خان د خپل پلار محمد خان لودي د مرګ نه پس د کالپي ګورنر مقرر شوے وۀ. د خپلو ورونو بهيکن خان او احمد خان سره ئې اختلافات وو چې سلطان ته وړاندې کړے شو سلطان وروستي دواړه خان لره د چنبل په غاړه راوغوښتل چې هورې ئې په ډېر عزت پذيرائي وشوه. (او وګورئ ن ز، ن ح جلد ۱ ص ۲۰۰ د ولايت کالپي جلال خان ته ورکړل کيدل د ورونو سره اختلاف پيدا کيدل وغيره)

۲، ۶ الف. ن ا "علي الدين". ن ا، ن ب "انوپ نګر" وګورئ د دې صفحې نوټ ۲)

فارسي عبارت : "وتوجه به تخريب جلال خان شهزاده که برادر سلطان بود فرمود و مردم خوب او را بجانب خود آورده جمعيت او را که شريک دولت بود برهم زد و دو فرمان صادر فرمود يکے در باب بستن جلال خان بنام ابراهيم خان نوحاني و سليمان فرملي و ملک علاء الدين جلواني و ديگر ے (شير خان و) بنام ميان بهوه و سعيد خان بن زکو و ملک آدم کاکړ که جلال خان و شير خان را برده در قلعه اونګر زنجير کرده به محافظت نګاه دارند." (ن ز ۷۵/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۰۳، ۲۰۴ و ډورن تعليقات ص ۹۸ په فارسي عبارت کښې د لينډو دننه الفاظ د ن ز دي. او د ډورن له نوټه ښکاري چې د هغه نوټ په کومې نسخې بنا لري هغې کښې هم وو. د شير خان نه پس "و" زياتي او غير ضروري دي)

ترجمه : .... او د خپل ورور شهزاده جلال خان بربادولو ته ئې پام وکړو. د هغۀ غوره سړي ئې خان ته راواړول. او هغه ټولے ئې چې د هغۀ د اقتدار مل وۀ وران کړو او دوه فرمانونه ئې جاري کړل يو د جلال خان د تړلو دپاره د ابراهيم خان لون، سليمان فرملي او ملک علاء الدين په نامه او دويم د شير خان په باب د ميان بهووه او د زکو د زوي سعيد خان او د ملک آدم کاکړ په نامه چې جلال خان او شير خان دې د اونګرهـ کوټ ته بوځي او هورې دې ئې زنځير کړي تر نظره ساتي.

فرشته (اګر کۀ دا وائي چې کوم وخت جلال خان د ډيره لښکره سره د سلطان استقبال وکړو نو د سلطان بده انديښنه پيدا شوه خو بيا د جنګ په بيان کښې ليکي : "...هر روز مردم به جنګ مي افتند و کشته مي شدند اما بعد از مدت هشت ماه معلوم پادشاه شد که بعضے از مردم معتبر درو نيان زبان دارند به سبب آنکه بر بام محل ايستاده تفرج ميکردند ديد که در قلعه از يک جانب شګاف شده و در ساعت از اندرون مسدود ساختند سلطان اين معني را از راست آمدن امرا با مردم حصار دانسته نخست مردم خوب جلال خان را پيش خود آورده آنګاه دو فرمان صادر فرمود يکے در باب ګرفتن جلال

خان۔۔۔۔" (جلد ۱ ص ۱۸۴) یعني عالم به هره ورځ جنت ته تلل او وژلے کیدل به. خو د اتو میاشتو پس بادشاه خبر شو چې ځنې له باوري کسانو له ګېرو (دروليان، محصورين) قول قرار لري. او دا داسې چې يوه ورځ سلطان د محل د پاسه ننداره کوله چې ئې وليدل چې کوټ کښې له يوۀ لوريه چاؤد وشو او په درنګ ساعت له دننه بند کړے شو. سلطان له دې وګڼل چې د اميرانو او د کوټ د عالمو سره جوړښت دے. وروميے ئې د جلال خان غوره سړي خان لره راوغوښتل او بيا ئې دوه فرمانونه جاري کړل يو د جلال خان د نيولو...

په مخ هغه مضمون دے چې پورته له ن ز او ن ح نقل شو خو فرشته د "ميان بهوره په خائے ميان بهوره" ليکي. نۀ د سعيد خان د پلار نامه او نۀ ملک آدم سره کاکړ ليکي. فرشته د مهم کال ۹۱۴ هجري ليکي زمونږ نسخې اګر کۀ واضح کال نۀ ليکي خو د سياق او سباق نه هم دغه کال قياسيږي. اګر کۀ ن ز او ن ح او پښتو نسخې د شګاف (چاود) کيدو او بنديدو واقعه او د سلطان ئې ليدل نۀ ليکي او د دورن ترجمه ئې بغير د سلطان د مشاهدې لري خو په سبب ئې د سلطان په امراؤ ئې د سازش د ګمان ذکر پکښې شته. (سکه څکه چې د سلطان ئې د ليدو ذکر هم پکښې

دلته دوه اهم سوالونه غور غواړي. (۱) سلطان کوم وخت د جلال خان د تخريب د مغۀ د بربادولو نيت کړے وۀ؟ او (۲) دغه جلال خان څوک وۀ؟ د سلطان ورور شهزاده جلال خان کۀ بل څوک وۀ؟ په دې لړ کښې به د جلال خان (يو سړے يا دوه بيل کسان) په دې حقله د مخزن افغاني، تاريخ خان جهاني لانديني بيانات پنۀ څيړل او بيا ورسره د فرشته بيان په غور لوستل ضروري دي. وروميے به د اولني ماخذ بيانات وڅيړو:

"بعد از طلوع سهيل در سنه ۹۱۲ هجري اثني وعشر وتسعمايه جانب قلعه اودنگر ـــــ ابراهيم مقرر فرموده ولايت کالپي را که بعد از فوت محمود خان لودي بر جلال خان پسر او مقرر شده بود چون ميان برادران مخالفت شد به سلطان عرضداشت کردند و سلطان فيروز افغان را پيش هيکمن مان و احمد خان برادران جلال خان فرستاده ايشان را طلب نمود. در کنار آب چنبل رسيدند و هر دو برادر به التفات بادشاهانه ممتاز شدند ـــــ سلطان بست وسوم ماه مذکور به اودنگر آمده قلعه را محاصره کرد ـــــ سلطان بعد از فتح ـــ قلعه را حواله مکن و مجاهد خان نمود ـــ سنه ۹۱۳ هجري ـــ سازند ـــ در اوائل طلوع سهيل به عزم تسخير قلعه نرور را محاصره نمايد ـــ جلال خان لشکر خود راسته ـــ و توجه به تخريب جلال خان شهزاده ـــ نگهدارند ـــ سلطان بست و هشتم ماه شعبان ۹۱۴ هجري اربع وعشر وتسعمايه از قلعه نرور کوچ کرده ـــ به قصبهٔ لهائر آمده يک ماه توقف فرمود. درين اثنا نعمت خاتون زن قطب خان لودي با شهزاده جلال خان آمده به لشکر سلطان ملحق گرديد سلطان به ديدن او رفت و دلجوئي ايشان نمود و سرکار کالپي را به جاگير جلال خان نامزد فرمود و صد و بست راس اسپ و پانزده زنجير فيل با خلعت خاص و مبلغ نقد عنايت کرده و او را همراه نعمت خاتون به جانب کالپي رخصت فرمود ـــ بتاريخ دهم محرم سنه ۹۱ هجري الخ۔"

ترجمه: پس د سهیل د راختو په ۹۱۲ هجري کښې د اونت گرهـ کوټ ته ... ابراهیم مقرر کړو. او د کالپی په ولایت چې د محمود خان لودي د مرګ نه پس د هغهٔ زوی جلال خان مقرر شوی وهٔ. هر کله چې د ورونو تر مینځه شخړه راښرخیره شوه او سلطان ته ئې عرض وکړو سلطان فیروز خان اغوان د جلال خان ورونو بهیکن خان او احمد خان لره د راغوښتو دپاره ولیږلو. د چنبل سیند په غاړه په خدمت کښې حاضر شول. او د سلطان په مهربانو جوت شول... سلطان د یادې شوې میاشتې په ۲۳ تاریخ اونت گرهـ ته راغے او کوټ ئې گیر کړو.... سلطان د فتح نه پس.... کوټ ئې مکن او مجاهد خان ته وسپارلو.... ۹۱۳.... سازند ... د سهیل د راختو په وړومبو ورځو کښې د نرور د کوټ چې د مالوې له توابعو وهٔ د نیوۇ په نیت روان شو د کالپی حاکم جلال خان ته ئې فرمان ولیږلو چې ورشه کوټ گیر کړه... جلال خان خپل لښکر ښهٔ ساز کړ.... او پام ئې د جلال خان شهزاده بربادولو... تر نظره ساتي.... په ۲۸ شعبان ۹۱۴ هجري د نرور له کوټه کوچ کړے د لهائر قصبې ته راغے او یوه میاشت هوري ایسار وهٔ. په دې دوران کښې د قطب خان لودي ارتینه نعمت خاتون سره د جلال خان شهزاده د سلطان فوځ ته راغله سلطان د هغې لیدو لره لاړ او د هغوی زړهٔ ساتنه ئې وکړه او د کالپی جاگیر ئې جلال خان ته وبخښلو. او شپږ شلې اسونه او پینځلس هاتیان سره د خاص خلعته او د ډیرو نغدو روپو ئې ورلره ورکړل او سره د نعمت خاتون ئې کالپی ته رخصت کړ او په لسم محرم ۹۱۵ هجري الخ..

اوس به د فرشته بیان وکورو:

''در۹۱۲ هجری اثنی عشر تسعمایه جانب قلعه اودیت نگر...... ابراهیم مقرر شد ولایت کالپی که بعد از فوت محمود خان بجلال خان پسر او مقرر شده بود برادران او بهیکن خان وحاجی احمد خان با او در مقام منازعت شدند سلطان حکومت کالپی را به فیروز اوغان عنایت فرموداو اوغان طائفه است قرین افغان ومجاهد خان را به دهولپور گزاشته خود به کنار آب چنبل رفت ونزول کرده در آنجا خواص خان وبهیکن خان به ملازمت رسیده به عنایات سلطانی ممتاز شدند وسلطان به اودیت نگر آمده قلعه را محاصره نمود...... وبادشاه بعد از فتح......قلعه را به بهیکن خان پسر مجاهد خان سپرد...... بعد از طلوع سهیل در ۹۱۴ هجری اربع عشر تسعمایه عزیمت تسخیر قلعه نرور من توابع مالوه که در تصرف کفار بود نمود وبجلال خان حاکم کالپی حکم صادر شد که پیشتر به نرور رفته محاصره نماید...... بادشاه نیز از تعاقب رسیده......جلال خان لشکر خود اراسته...... هر روز مردم به جنگ می رفتند......به محافظت پرداختند......سلطان سکندر در ماه شعبان ۹۱۴ هجری اربع عشر تسعمایه از پای قلعه نرور کوچ کرد...... به قصبه بهار آمد ویک ماه در آنجا توقف کرد ودر همانجا نعمت خاتون زن قطب خان که مرضعهٔ شهزاده جلال خان بود به اتفاق شهزاده آمد وسلطان به دیدن ایشان رفته دلجوئی نمود وسرکار کالپی به جاگیر شهزاده مقرر کرده صد وبست راس اسپ وپانزده زنجیر فیل ومبلغ نقد عطا فرموده همراه نعمت خاتون رخصت کالپی داد وخود در ۹۱۵ هجری خمس وعشر تسعمایه......''

ترجمه : په ۹۱۲ هجري کښې د اودیت نگر کوټ ته... ابراهیم مقرر کړ او د محمود خان

لودي د مړينې نه پس چې د کالپي علاقه د هغهٔ زوي جلال خان ته سپارلې شوې وه او د هغهٔ او د ورونو ئې بهيکن خان او حاجي احمد خان تر مينځه شخړه رابرخيره شوې وه. سلطان د کالپي علاقه فيروز نومې اوغان ته ورکړه. د اوغانو طائفه د افغانانو خويښه ده...او مجاهد خان ئې دهولپور کښې پريښود پخپله د چنبل سيند غاړې ته لاړ او مقيم شو او هورې خواص خان او بهيکن خان په خلعت کښې حاضر شول او سلطان اوديت نګر ته راغے او کوټ ئې ګير کړو.... او بادشاه د فتحې نه پس.... کوټ ئې د مجاهد خان زوي بهيکن خان ته وسپارلو.... او پس د سهيل له ختو په ۹۱۴ هجري کښې د نروړ د کوټ ئې چې د مالوې له توابعو او د کافرو په قبضه کښې وهٔ د نيولو نيت وکړو. او د کالپي حاکم جلال خان ته حکم وليږلے شو چې وړاندې دې نروړ ته لاړ شي او کوټ دې ګير کړي.... بادشاه هم ورپسې ورغے.... جلال خان خپل لښکر ښهٔ ساز کړ.... هره ورځ به عالم جنګ لره تلل.... د نګرانې لاندې ئې کړل.... سلطان سکندر د شعبان مياشت ۹۱۴ هجري کښې د نروړ له کوټه کوچ وکړ.... د بهار قصبې لره راغے. يوه مياشت ئې هورې تيره کړه او هم هورې د قطب خان لودي ارتينه نعمت خاتون چې شهزاده جلال خان لره ئې تے ورکړے وهٔ سره د شهزاده راغله او سلطان د هغوې د ليدو دپاره ورغے د هغوې زړهٔ ساتنه ئې وکړه د کالپي علاقه ئې شهزاده ته په جاګير کښې ورکړه او شپږ شلې اسونه پينځلس هاتيان او نغدې روپۍ ئې هم ورکړے او نعمت خاتون سره ئې کالپي ته رخصت کړ او پخپله په ۹۱۵ هجري کښې الخ.."

لکه چې بايد محسوس کړے شي زمونږ د پښتو ترجمه د ن ز او ن ح او د فرشته د عبارت نه څهٔ لږه مختلفه ده زما د وړاندې په فارسي عبارتونو کښې د نعمت خاتون له سلطانه د شهزاده جلال خان د تقصير غوښتو يا سلطان ته د هغهٔ دپاره د سفارش کولو ذکر نشته. د ډورن ترجمه کښې هم دغه خبره نشته. د هغهٔ ترجمه ص ۶۳ داسې ده: "دا وخت نعمت خاتون د قطب خان لودي ارتينه راورسيده او د سلطان د هغې ليدو دپاره په وررسيدو ئې هغې ورته د جلال خان سفارش وکړو. هغهٔ نهٔ صرف په دې باره کښې د هغې خواهش پوره کړو. بلکې هغې له ئې هم شپږ شلې اسونه پينځلس اتيان او د اولې درجې اعزازي خلعت ورکړو. لکه چې بايد ښکاره وي د ډورن په ترجمه کښې جلال خان سره شهزاده نشته. بيا جلال خان ته د کالپي د ګورنرۍ د ورکړل کيدو ذکر هم نهٔ کوي. تر څو چې د انعامانو د بخښنې تعلق دے د ډورن بيان واضح دے چې نعمت خاتون ته ورکړل شول. پښتو ترجمه په دې باب واضحه نهٔ ده. دا مطلب ترې هم اخستل کيدے شي چې انعامات نعمت خاتون ته او د کالپي

حکومت او محصول جلال خان ته په جاگیر کښې ورکړل شول. زما د وړاندې د فارسي عبارتونو لکه چې تاسو ولوستل مطلب دا دے چې د کالپي حکومت سره د یادو شوو انعاماتو جلال خان شهزاده له ورکړل شول. د نعمت خاتون څښتن قطب خان د سلطان بهلول لودي د ترۀ اسلام خان زوے وۀ. (وګورئ ص ۵۸ نوټ ۲)

اوس نو تر څو چې د ورومبي سوال (سلطان کوم وخت د جلال خان د بربادولو نیت کړے وۀ)؟ تعلق دے نو د نرور د مهم په حقله د ګردو واقعاتو (خصوصاً د فرشته (انکشاف) د لوستلو نه پس جوتیږي چې سلطان څۀ شکي مزاج او طبعاً بدګمانه سړے نۀ وۀ چې محض دې دپاره ئې جلال خان ته نیت خراب شوے وۀ چې سلطان نرور ته ورسیدلو جلال خان ئې په ډېر شان او شوکت آراسته لښکر سره استقبال کړے وۀ او هم هغه وخت ئې د جلال خان د برباد کولو نیت وکړو. بلکې چې کوم وخت ئې د څنو امیرانو (چې غالباً جلال خان او شیر خان ئې د سر سړي وو) د غدارۍ، محصورانو سره د جوړښت شهادت ولید نو هغوي ئې ګرفتار او د اونت ګړهـ په کوټ کښې بند کړل. ګنه د استقبال په موقع شوکـ د سلطان له نیته خبر شول او څنګه؟ هغۀ ئې چاته اظهار کړے وه؟ دا بیله خبره ده چې کوم وخت جلال خان او شیر خان غدار ښکاره شوے وي نو سلطان به وئیلي وي چې جوړ جلال خان زما په استقبال کښې دومره تکلف او مبالغه دې دپاره کوله چې خپل بد نیت ئې پټولو او په دې سلسله کښې ئې زما اعتماد حاصلولو.

تر څو چې د بل سوال (دغه جلال خان چې د خپلې غدارۍ په پاداش کښې ګرفتار او د اونتګړهـ په کوټ کښې بند شوے وۀ څوک وه؟) تعلق دے نو مونږ وخیرل چې د نرور مهم د ۹۱۳ هجري په اواخر یا د ۹۱۴ هجري په اوائل کښې ولګید (۲) د کالپي ګورنر جلال خان ته حکم شوے وۀ چې وړاندې دې لاړ شي او کوټ دې محاصره کړي. (۳) بادشاه پخپله هم ورپسې ورسید. (۴) د دې نه ورومبے د محمود خان لودي د مرګ نه پس د هغۀ زوے جلال خان د کالپي ګورنر مقرر شوے وۀ. د هغۀ او د ورونو ئې اختلاف وشو. خواجه نعمت الله د جلال خان په ځائے د فیروز اغوان د کالپي د ګورنر کیدو ذکر نۀ کوي او فرشته وائي چې د جلال خان په ځائے فیروز خان اوغان د کالپي ګورنر مقرر شو. نو په دې کښې د تطبیق دا صورت کیدے شي چې د ورونو د اختلاف د ظاهریدو او سلطان ته ئې د خبر رسیدلو سره سم د تیکه د جلال خان په ځائے فیروز اوغان د کالپي ګورنر نۀ وۀ مقرر شوے چې محمود خان لودي وفات شو نو جلال خان د کالپي ګورنر شو. د ورونو سره ئې اختلافات شروع شول. سلطان ته ئې خبر ورسید. هغۀ ئې د فیروز اوغان په ذریعه ورونه راوغوښتل

هغوي ئې رضا کړل. په دې دوران کښې د نرور د مهم قصد وشو. سلطان جلال خان له کالپيه نرور ته بدل کړ او فيروز اوغان ئې د هغهٔ په ځائے کالپي ته واستولو. (۵) خواجه نعمت الله او فرشته لکه چې بره ولیکل شول دواړه په اتفاق لیکي چې د نرور مهم جلال خان ته سپارلے شوے وهٔ. چې د کالپي گورنر وهٔ او هم ورسره شهزاده نهٔ لیکي. (٦) چې کوم وخت جلال خان د سلطان استقبال کوي نو نهٔ خواجه نعمت الله او نهٔ فرشته جلال خان په طور د شهزاده يادوي. (۷) خواجه نعمت الله په ديوال کښې د چاود کيدو د سمدستي ړکيدو او د بادشاه په خنو امراؤ په دې وجه د شکي کيدو واقعه نهٔ بيانوي. فرشته ئې بيانوي. (۸) دې نه پس د جلال خان او د شير خان د گرفتارۍ ذکر راځي. دلته هم جلال خان سره صرف خواجه نعمت الله شهزاده ليکي. فرشعه نهٔ ليکي. (۹) بيا د نرور مهم د ۹۱۴ هجري اواخر پورې جاري وهٔ او د جلال خان او شير خان گرفتاري او قيديدل هم د فتحې نه لږ اګاهو هم د دغه کال په اواخر کښې شوي وو. (۱۰) د کال ۹۱۵ هجري د واقعاتو د ذکر نه وړومبے (چې خواجه نعمت الله ئې زيات په تعين د وړومبي مياشتې محرم د لسم تاريخ نه ذکر شروع کوي) سلطان نعمت خاتون او شهزاده جلال خان سره ملاقات کوي او د هغو د زړهٔ ساتنه کوي. شهزاده جلال خان سره د ډيره انعامه اکرامه نعمت خاتون سره د کالپي په گورنري رخصتوي.

اوس کهٔ شهزاده جلال خان د نرور د مهم په اخري مراحلو کښې گرفتار او قيد شوے وهٔ نو راخلاص شوے کوم وخت وهٔ او د چا په سفارش او د کومو مصالحو نظر د وړاندې پرېښودلے شوے وهٔ؟ ډاکټر عبدالحليم "دي لودي سلتانز" ص ۹۷ د سلطان د نعمت خاتون او شهزاده جلال خان سره د ملاقات په سلسله کښې ليکي چې د نعمت خاتونے په سفارش معتوب Disgraced شهزاده معاف کړے شو. ليکن د دغه ملاقات د حال په سلسله کښې نهٔ خو خواجه نعمت الله او نهٔ فرشته چرته دا وائي چې شهزاده معتوب وهٔ يا نعمت خاتون د هغهٔ سفارش کړے وهٔ. ستائيلے ډاکټر عبدالحليم په حاشيه کښې د دې ملاقات په لړ کښې د تاريخ فرشته د يوې قلمي نسخې حواله ورکړې ده ليکن د حوالې نخښنه صرف په هغه ځائے ده چې کوم ځائے نعمت خاتون ته د جلال خان مرضعه وتيلي شوي دي. ډاکټر صاحب دا ذکر يا دعوئ چرته نهٔ ده کړے چې د دغې نسخې عبارت د فلانکي خبرې په حقله د فرشته د تاريخ له چاپو ايډيشنونو مختلف دے. البته د ډاکټر صاحب بيان زمونږ پښتو ترجمې او د ورن ترجمې ته نزدې دے.

نو له پورته خبرو خو هسې برېښي چې معتوب جلال خان د سلطان ورور جلال خان نهٔ وهٔ بلکې د محمود خان لودي زوے جلال خان وهٔ. البته د سلطان د نعمت خاتون او جلال

خان شهزاده سره د ملاقات په ذکر کښې د سلطان له طرفه د هغوي د دلجويي (زړهٔ ساتنې) د ذکر نه څخو شک ولاړيږي چې ګونديږ د شهزاده نه سلطان خفه وهٔ او په دا موقع د هغوي د دلجويي دپاره ئې په شهزاده مهرباني وکړې خو د دلجويي مطلب خاطر مدارات دے. او کهٔ د دې نه د زياتې مهربانۍ مطلب ترې هم واخستے شي نو ضروري نهٔ ده چې دې دپاره د شهزاده مجرميت او معتوب کيدل فرض کړل شي. په هر حال زمونږ د ورالدې د بيانات له رويه د معاملې حل کهٔ هر څو ګران دے د شهادت وزن لکه چې پورته ووئيل شول د مجرميت او سلطاني عتاب ترون د محمود خان لودي زوي جلال خان سره کوي.

ص ۶۸

چنديري: د ګواليار د رياست په ګواليار ضلع کښې له ګواليارهٔ ۱۰۵ ميله جنوب ته له دهلیه ۲۸۰ ميله جنوب ته. له چنديري تر اګرې د ۱۷۰ ميلو مزل دے. (ن ح جلد ۱ ص ۲۰۴ حاشيه ۴ تر ص ۲۰۵) لکه ګواليار او دهلي، آګره هم له چنديري شمال ته واقع ده. چې تراوسه د سلطان کوم کوم مشهور مهمونه بيان شول د هغو په رڼا کښې او د څنو نورو مشهورو ځايونو له نسبته به د چنديري محل وقوع داسې وي. د ګواليار او نرور (چې د ګواليار جنوب کښې دے) دواړو نه جنوب ته. د ديو ګرهـ (لکه چې د منتخب التواريخ د انګريزي ترجمې جلد ۱ محشي د وينا له رويه اوس اونت ګرهـ په دې نامه نقشه کښې ښنيلے شوے دے) نه جنوب مشرق ته او د ريوې يا بهټې نه مغرب ته. د جهانسي او بهيلسه تر مينځه له ورومبي ځايه جنوب څخو مغرب ته او له وروستيه شمال ته (وګورئ د الفنسټن "دي هسټري آو انډيا" سره لګيدلے نقشه)

۲. زمونږ پښتو ترجمه او د ډورن انګريزي ترجمه ص ۲۳ "سهيري" او لکه چې په حقله ئې د ن ح له حاشيې ښکاري په مختلفو نسخو او کتابونو کښې دا ځائے "سيري"، "سيهري"، "سهري" او "سهرې" راغلے دے. د ګواليار په رياست کښې د ګواليار له کوټه ۶۵ ميله سهيل ته د سپري قصبه پرته ده. (ن ح جلد ۱ ص ۲۰۵ حاشيه ۱) د الفنسټن د نقشې له رويه له نرورهٔ (چې ګواليار سهيل ته دے) سهيل ته لږ شان لويديز ته.

۳. فارسي نسخې "ګماشته هائے اين جانب".

۴. زما تر پوهې ترجمه څخو تکلف لري او دې دپاره صفا نهٔ ده. فارسي عبارت داسې دے: "۔۔۔کہ اگر چندیری را حوالۂ گماشتہ ہائے این جانب نماید بنوعے امداد او کردہ شود کہ سلطان ناصر الدین را بردو دسترس نہ باشد۔" (ن ز ۲/۷۵ و ن ح جلد ۱ ص ۲۰۵) يعنې کهٔ چنديري زمونږ ناظرانو ته وسپاري نو داسې امداد به ئې وکړل شي چې د سلطان ناصر الدين لاس به نهٔ ور رسي. په ن ز کښې د "امداد" نه پس

"او" شته په ن ح کښې د رامپور ستیټ (رضا) لائبریری په حواله په قوسینو کښې لیکلے شوے دے.

د ډورن ترجمه لا بل شان ده :

He would sofar assist him, as to enable him to return in concilliation to his Father.

یعنې هغه به ئې تر دغه حده امداد وکړي چې پلار سره ئې روغه وشي او ورلره بیرته لاړ شي. ترجمه محل نظر ده.

۵. ن ز ۲/۷۵، ن ح جلد ۱ ص ۲۰۵ هم دغسې خو دومره توپیر په شروع کښې زیاته ده. "اتفاقاً شهزاده رابعضے موانعات ضروری پیش آمد، از مالوه نتوانست برآمد سپردن الخ" یعنې شهزاده ته ځنې اهمې اړکې ور پیښې شوے او له مالوې ونۀ وتے شو او سهارل الخ.

ډورن حصه ۱ ص ۶۳ "خو شهزاده د چندیرې له کوټه محرومیدلو کښې خان غیر محفوظ ولید او ورته وجاروت او سلطان حکم وکړو چې دغه کوټ ته نزدې بل کوټ ساز کړی. لکه چې تاسو په دغه اقتباس کښې ولیدل "د دغه کوټ" نه وړومبے د چندیرې د کوټ ذکر دے. نو د دغه کوټ نه به مراد هم د چندیرې کوټ ګڼل کیږي. د بل کوټ په حقله راتلونکے نوټ وخیرئ.

۶، ۲ الف. د نرور د کوټ د حفاظت دپاره ئې د استحکام ذکر راغې چې د ډورن ترجمه کښې نشته د چندیرې کوټ ته نزدې د کوټ د تعمیر ذکر خو نۀ زمونږ پښتو ترجمه او نۀ فارسي نسخو کښې شته. خو ډورن (حصه ۱ ص ۶۳) هم چې په near this fort (دې کوټ ته نزدې) الفاظو کوم نوټ (تعلیقات ص ۹۸) له یوې بلې نسخې لیکلے دے هغه زمونږ د پښتو ترجمې او د فارسي نسخو د عبارت (قلعۀ دیگر در گرد او ساخت) هم معنیٰ دے.

چې تر څو د سیند د نوم تعلق دے نو پښتو نسخې "سپري". ن ز ۲/۷۵ او ن ح جلد ۱ ص ۲۰۵ "آب سپره". د ډورن په یاد شوي نوټ کښې "سپیري". بیا د ن ح جلد ۱ ص ۲۰۵ حاشیه ۲ د رامپور ستیټ (رضا) لائبریری په نسخه کښې "آب سپیره" د بانکي پور خدا بخش لائبریری په نسخه کښې "آب سپري" د ایشیاټک سوسائټی کلکته لائبریری نسخه کښې "آب سیپري". تاریخ نظامي او مآثر رحیمي "آب سپره" تاریخ فرشته جلد ۱ ص ۳۴۰ "آب سند" (زما په مخکښې د فرشته د نولکشور لکهنو ایډیشن جلد ۱ ص ۱۸۵ "آب سند" یادوي.)

د ذکر کړلو شوؤ حوالو نه پس د ن ح فاضل محشي لیکي "آب سپره دریاست اندر وسط هند است." نقشه امپیریل ګزټیر پلیټ نمبر ۳۸ اے ۳.

د فاضل محشي په مخکښې لکه چې تاسو ولیدل په دریو نسخو کښې په ترتیب آب سپیره، سپړي او سپیري او په دوؤ نورو کتابونو کښې سپره وۀ. نو غالباً د ن ح فاضل محشي "آب سپره" غوره کړ. زما په مخکښې هم لکه چې عرض وشو په ن ز کښې "آب سپره" دے.

ما د پښتو "سپړي" دې دپاره بدل نۀ کړو چې زما د وړاندې پښتو نسخو کښې "آب سپړي" نه علاوه د ډورن انګریزي ترجمه کښې "سپړي" او د ن ح فاضل محشي چې د کومو نسخو حواله ورکړې ده په هغو کښې له دریو په دوؤ کښې "آب سپړي" او "آب سیپړي" دے. فرشته چې "سند" نومے کوم سیند یاد کړے دے نرور ئې په غاړه پروت دے. او د ګوالیار د نرور ضلعې صدر مقام سپړي لرې نه په څۀ فاصله لویدیز لورې له نرورړه سهیل لویدیز نه پرته ده. او هم دغه سپړي په روډ میپ آو انډیا ۱۹۲۸ ء کښې شیر پوري نوملے شوې ده. (د ګوالیار د شیوپور ضلعې شیو پور سره دې نۀ مخلوطیږي) نو ګوندې له دې قبله "آب سند" د "آب سپړي" په نامه هم یاد شوے وي. په دغه نامه (په څۀ فرق) یو بل سیند "کالي سند" هم شته او کۀ دا او سپره هم چرې د یو سیند نامې وي نو وئیل کیدے شي چې ممکنه ده چې فرشته "آب سپره" ته "آب سند" وئیلے وي خو سند، کالي سند او سپره درې بیل سیندونه دي. سپره سیند چې اونتي ندې ورته هم وائي او منبع ئې له اندوره دولس میله جنوب مشرق ته ده. د اندور او دیواس د علاقو نه علاوه څۀ فاصله د ګوالیار په حد کښې هم بهیږي. او بیا ترې شمال مغرب ته په خپل سیند کښې ورپریوزي. د نرور او سپړي حدودو ته نۀ رانزدې کیږي بلکه شمال مغربي رخ لرونکے ترې لرې ووځي. (امپیریل ګزټیر جلد ۲۳ ص ۱۵،۱۴ و جلد ۲۶ نقشه ۳۸. د ایلفنسټن "دي هسټري آو انډیا" سره لګیدلے نقشه او "دي روډ میپ آو انډیا ۱۹۲۸ ء") د سند یا سنډ منبع نینواس (سرونج پرګنه ریاست ټونک) سره ده. رخ ئې شمالاً شرقاً دے. د وړومبي ۱۳۰ میلو په مزل کښې یو خوړ غوندې وي خو چې نرور ته راورسي نو د یو لوے سیند شکل اختیار کړي. (امپیریل ګزټیر جلد ۲۲ ص ۴۳۳ د ایلفنسټن "دي هسټري آو انډیا" سره لګیدلے نقشه او "دي روډ میپ آو انډیا ۱۹۲۸ ء) کالي سند د دغو دواړه تر مینځه دے. (وګورئ یادې شوے نقشې.)

هر کله چې زما د وړاندې پښتو نسخو کښې د "سپړي" او د دغو نسخو نه علاوه خن فارسي نسخو کښې "سپړي" او "سیپري" دے او ډورنَ هم سپیري لیکي او هر کله چ "سپړي" قصبه د سند په خوا کښې وه نو کیدے شي چې "آب سند" د آب سپړي په نوم هم بللے کیدو نو ما، زما د وړاندې د پښتو نسخو "آب سپړي" هم دغسې پرېښود او بیانیدونکو وجوهاتو له رویه په "آب سپړي" او "آب سپره" کښې یو هم غوره کول څخ

ګران دي. کۀ مونږ سپرې فرض کړو نو نرورړ چې ترې د سلطان کوچ او آب سپرې یا سپره ته رسیدل بیان شوي دي او سپرې قصبه پخپله لکه وړومبے خائے بالکل د آب سپرې (کۀ ترې هم آب سند مراد وي) په غاړه له نرورړه په لړه فاصله جنوب مغرب ته پرته ده. نو له آب سپرې د آب سپرې غاړې ته د رسیدو څۀ مطلب. د دې اعتراض زور به هغه وخت خاص طور سره زیات وي کۀ مونږ د سپرې قصبې سره د سیند غاړه فرض کړو. ځکه چې د نرورړ او سپرې ترمینځه فاصله زیاته نۀ ده او د سلطان کوچ له نرورړه په ۲۸ شعبان ۹۱۴ هجري او د "آب سپرې" یا سپره غاړې ته رسیدل ئې د ذیقعدې په میاشت کښې بې د تاریخ له ذکره بیان شوي دي. (ډاکټر عبدالحلیم "دي لودي سلټانز ص ۹۶ د سلطان کوچ له نرورړه په ۲۶ شعبان او د سپره غاړې ته رسیدل د ذي الحجې په میاشت کښې بې له تاریخه بیانوي خو د سیند تعین نۀ کوي) نو د نرورړ او سپرې قصبې تر مینځه فاصله نظر د وړاندې دا ډیره لویه موده لیدے شي. کۀ سلطان د سپرې د قصبې نه لاندې سهیل لورې چرته ډیر لرې د آب سند یا آب سپرې په غاړه رسیدلے وي نو بیا به هم هغه وړومبے اعتراض راولاړیږي چې له نرورړه په نورو الفاظو کښې د آب سپرې له غاړې د آب سپرې غاړې ته رسیدل د وینا کوم انداز دے. نو کۀ چرې داسې شوي وي نو سلطان له نرورړه د کوچ نه پس به په څۀ دپاسه د دوؤ میاشتو په موده کښې د سیند له غاړې چرته لرې وتے وي او بیا به ورجاروتلے وي. یا په بل صورت کښې یعنې کۀ دا د بحث لاندې غاړه د سپره سیند یا د کالي سیند رود وي نو جنوباً غرباً تک نه پس به سلطان وررسیدو. او سپره ته کۀ چرې تلے وي نو هر کله چې کالي سیند د سند او سپره ترمینځه بهیږي نو کۀ معمولي لارې ئې اختیارې کړے وي نو غالباً چې له کالي سینده به هم پورې وتے وي. دلته دا وضاحت به بې ځایه نۀ وي چې سپره سیند د ګوالیار په کومو برخو یعنې اجین او منداسر کښې بهیږي دا نۀ صرف د ګوالیار له لویې برخې چې له اګرې او اټاوې جنوباً پرته ده بیلې بلکې له یوې بلې هم بیلې دي. او په مینځ کښې ئې نورې علاقې راځي او سره کافي فاصلې لري. او کۀ دغه څۀ دپاسه د دوؤ میاشتو موده سلطان په کوچ او له مختلفو علاقو په تیریدو کښې لګولے وي نو د واقعاتو له رویه دغه موده ډیره شنډه ښکاري. یا واقعات د ماضي په شخړو کښې پټ شوي وو او یا مؤرخانو ځنځو غفلت کړے دے. بیا د غور خبره دا ده چې کۀ سلطان د سیند کۀ هر یو وۀ غاړې ته په دوؤ میاشتو خواؤشا موده کښې رسي نو لهاڼر ته (د راتلونکې نوټ انتظار وکړئ) چې له نرورړه په کافي فاصله شمال مشرق ته پروت دے ځنګه مقابلتاً په ډیره لږه موده کښې په واپسی رسیږي. د سلطان د آب سپرې یا آب سپره غاړې ته رسیدل په ذي قعده کښې بیان شوي دي. له هغه ځایه ئې لهاڼر ته راتلل ښنیلي

شوي دي لهائر کښې ئې قيام يوه مياشت او بيا د هتکالت په نواح کښې د بادشاهي ښبانونو خوزيدل په لسم محرم ياد شوي دي نو کۀ له لهائره د هتکالت نواحي ته د سلطان رارسيدل په يوه ورځ کښې هم فرض کړے شي نو ګويا لهائر ته د اتمې او لسمې ذي الحجې تر مينځه به چرته رارسيدلے وي او اګر کۀ د آب سهري يا سهره غاړې ته په ذي قعده کښې د رسيدو تاريخ او د قيام موده نۀ ده بيان شوے خو کۀ مونږ فرض کړو چې هلته هم په وړومبي تاريخ د ذي قعدې رسيدلے وۀ او هم په هغه ورځ لهائر لورې ته بيرته روان شو نو ګويا په مقابلې د دوؤ مياشتو او دوؤ ورځو (لکه چې له نروړه کوچ په ۲۸ شعبان بيان شوے دے) په واپسۍ کښې ئې زيات وړد مزل په يوه مياشت او اتو يا نهو ورځو کښې ووهلو.

۷. مط ن ز ۲/۷۵ و ن ح جلد ۱ ص ۲۰۶. پښتو نسخې "بهاولپور" (چې قطعاً له بحثه خارج دے) د ډورن په ترجمه کښې د لهائر ذکر نۀ راځي خو په تعليقات ص ۹۸ نوټ په سطر ۳۲ ص ۶۳ کښې "بهير" او بيا په حاشيه کښې ليکي چې په فرشته ص ۵۸۲ کښې "بهار" دے. د ن ح جلد ۱ ص ۲۰۶ حاشيه وائي چې فرشته جلد ۱ ص ۳۴۰ کښې "بهار" دے. زما په مخکښې د فرشته ايډيشن جلد ۱ ص ۱۸۵ کښې هم "بهار" دے. صحيح نوم لهائر، لهئير يا لهار دے. د ن ح فاضل محشي د جلد ۱ ص ۲۰۶ حاشيه وائي چې قصبه لهائر اوسنے لهار ده چې د ګواليار په رياست کښې د "دريا سنده" د مشرقي غاړې نه شپږ ميله او د ګواليار له بناره ۵۰ ميله مشرق او له کالپي ۵۰ ميله مغرب ته واقع ده. (په حواله د امپيريل ګزټيير جلد ۸ ص ۴۰۰ او سنټرل انډيا ګزټيير ص ۱۵۴) دغه قصبه د نرور شمال مشرق د ګواليار مشرق او د يو پي د کالپي مغرب ته ده او د يو پي دَ دوؤ نورو مشهورو ښارونو اټاوې جنوب او د جهانسي شمال ته وړومبي ځائے ته مقابلتاً زياته نزدې پرته ده. (وګوری الفنسټن "دي هسټري آو انډيا" سره لګيدلے نقشه) په دغه نقشه کښې اټاوه لکه چې انګريزي، لاطيني حروفو کښې ئې هجه شوې ده. اټايه لوستل کيږي ځکه چې په ځاے له دوؤ انګريزي حروفو "وي" او "ډبليو" چې د "واؤ" اواز ورکوي د يو د استعمال "وائي" چې د يا اواز ورکوي په هجه پکارولے شوې ده. هيله ده چې له اټه به نۀ مخلوطيږي.

۸. صل شل يعنې سل شل. شپږ شلې. وګوری ص ۶۷ نوټ ۶ او ۶ الف.

۹. فارسي نسخې او هم فرشته او هم ډورن پينځلس اتيان. وګوری ص ۶۷ نوټ ۶ او ۶ الف.

وګوری ص ۶۷ نوټ ۶ او ۶ الف.
دلته پښتو نسخې هم لهائر.

مط ن ح جلد ۱ ص ۲۰۶ د ډورن حصه ۱ ص ۶۴. ن ز هتهکانت (ګوندي هتهکانت پښتو نسخې "تهکانت" وګورئ زموږ ص ۴۹ نوټ ۱۸. ډورن "په کال ۹۱۵ هجري کښې د هتکانت لوري ته مخه کړه." ن ز ۱/۷۶ بتاریخ دهم یوم خمس عشر و تسعمایه (د ۹۱۵ لسمه ورځ لسم محرم) ن ح جلد ۱ ص ۲۷۰ "دهم محرم سنه ۹۱۵ خمس و عشر و تسعمایه" یعني لسم محرم الخ. وړیسې د ن ز او ن ح عبارت چې یو شان دے "رایات دولت از لهائر بنواحئ هتکانت به حرکت آورد." یعني د حکومت نښانونه ئې له لهائره د تهکانت په خواؤ شا کښې وخوزول. وګورئ هم د دې صفحې نوټ ۶ او ۶ الف. د ن ح فاضل محشي لیکي "اوس هتکانت د اګرې ضلعې جنوب مشرقي تحصیل باه یا پناهټ (دا هم د یو تحصیل دوه نومونه دي) کښې د اټاوې او اګرې د لارې په تقاطع د شلو میلو په فاصله د اګرې لویدیز ته پروت دے. (جلد ۱ ص ۲۰۷ حاشیه ۲ په حواله د امپیریل ګزټیر جلد ۶ ص ۱۹۲ او ګلوسري آو انډیا (بیمس) جلد ۲ ص ۸۶). او له دې وړومبے هم په دغه حاشیه کښې لیکي: ابوالفضل وائي چې هتکنت خاص د ضلع بهداور بنار دے چې د اګرې په جنوب مشرق کښې ګوالیار ته نزدې پروت دے. او د هغه ځائے خلقو ته بهدوریان وائي. بیرم خان د اکبر باچا د تخت نشینۍ په دریم کال د اګرې په جنوب مشرق کښې هتکانت ادهم خان ته په طور د جاګیر وبخښلو چې سرکښه بهدوریان په قابو کښې ساتي. (په حواله د آئین اکبري. بلوک مین جلد اول ص ۳۲۳ حاشیه او ۳۴۱، ۳۴۸)

د هتکانت په حقله د نورو معلوماتو دپاره وګورئ آئین اکبري جلد ۲ ص ۱۲ (نولکشور لکهنو ایډیشن) چې له رویه ئې هتکانت د اګرې سرکار په اټاوه برخه کښې بښیلے شوے دے او بیا د اګرې سرکار په توابعو کښې (چې فهرست ئې له ص ۸۵ شروع کیږي) په ص ۸۶ دویم کالم کښې د هتکانت په باره کښې کښلي شوي دي چې د پخو خښتو کوټ لري او خلق ئې چوهان بهدوریه دي. (یعني د چوهان راجپوتو له بهدوریه څانګې دي)

د ن ح د فاضل محشي د هتکانت په باره کښې دا لیکل چې له اګرې ۲۰ میله لویدیز ته پروت دے محل نظر دي. د اګرې ضلعې په اوو تحصیلونو کښې اګره تحصیل شمالي مرکزي (امپیریل ګزټیر جلد ۵ ص ۸۱، ۸۲) اعتماد پور شمالي (جلد ۱۳ ص ۳۷۲، ۳۷۳) فتح آباد جنوبي مرکزي (جلد ۱۲ ص ۷۴) فیروز آباد شمال مشرقي (جلد ۱۲ ص ۹۹، ۱۰۰) خیر ګړه جنوب مغربي (جلد ۱۵ ص ۲۰۹، ۲۱۰) کرولي شمال مغربي (جلد ۱۵ ص ۳۰۷، ۳۰۸) او باه (پناهټ) جنوب مشرقي (جلد ۶ ص ۱۹۳، ۱۹۴) تحصیل دے. لکه چې د ضلعې مشرقي برخه د فیروز آباد او باه تحصیلونو کښې راغلې ده نو مغربي حصه

خیر گړهـ او کرولي تحصیلونو کښې راغلي دہ. نو یو ځائے په یوهٔ وخت په باه تحصیل کښې او له اگرې بناره د شلو میلو په فاصله مغرب ته نهٔ شي واقع کیدے.

تاسو ولیدل چې کوم اقتباس د ن ح فاضل محشي د بلوک مین د آئین اکبري (تالیف د ابوالفضل) نه ور کړے دے له رویه ئې هتکانت خاص د بهداور ضلعې بنار دے. چې گوالیار ته نزدې دے. نو د گوالیار د ریاست چې کومه علاقه د باه تحصیل سره لگیدلې ده د بهند (له باه تحصیله سهیل لویدیز) او تر نور گړهـ (له باه تحصیله جنوب مغرب) په ضلعو مشتمله ده. او لکه چې ما وړومبے عرض کړے دے (ص ۴۹ نوټ ۱۸) بهند بهداور د بهدوریانو مرکز پاتې شوے دے او غالباً چې هم باه تحصیل او د گوالیار د ریاست د بهند ضلعې څهٔ علاقه د بهداور پخوانی ضلع ده.

اگر کهٔ د الیټ گلوسري خو ما ونهٔ لیدې شوه خو د امپیریل گزټیر نه د ن ح د انتقاد لاندې بیان تائید نهٔ کیږي. د شپږم جلد په ص ۱۹۲ نهٔ خو د باه او نهٔ د هتکانت په حقله څهٔ شته. د دغه جلد ص ۱۹۳، ۱۹۴ د باه تحصیل چې پناهټ هم بالهٔ شي حال بیانوي او لکه چې عرض وشو د اگرې ضلعې جنوب مشرقي تحصیل ئې بښي. خو د هتکانت ذکر یا نوم نهٔ لري. بیا د بلوک مین له آئین اکبري ور کړے شوے حوالې نه علاوه (لکه چې روئیل شول د انتقاد لاندې بیان خلاف خې) اټاوه بنار چې د ههٔ او د اگرې د لارې په تقاطع د هتکانت واقع کیدهٔ د نظر د لاندې حاشیې کښې بیان شوي دي د اگرې له بناره جنوب مشرق ته دے اټاوه ضلع له اگرې ضلعې جنوب مشرق ته او د باه له تحصیله جنوب مشرق او هم شمال مشرق ته خوره ده.

بله دا چې لکه روئیل شول سلطان په لهائر کښې د یوې میاشتې د توقف نه پس چې کوچ وکړو نو په لسم محرم ۹۱۵ هجري سلطاني نښانونه د هتکانت په خوا کښې ښکاره شول او هورې لکه چې خواجه نعمت الله وائي د سرکښانو د زیر کولو او تانې قائمولو نه پس اگرې ته راورسید. له لهائره به سلطان اگرې ته د رسیدو دپاره شمال مغربي رخ لرلو کهٔ هتکانت له اگرې مغرب ته وے نو باید چې له هتکانته وړومبے اگرې ته رسیدلے وے او بیا هتکانت ته تلے وے.

۱۳. پښتو نسخې. ن ز ۷۶/۱ ن ح جلد ۱ ص ۲۰۷ او ډورن جلد ۱ ص ۶۴ "لکهنو" ن ح ص مذکوره حاشیه ۳. تاریخ نظامي جلد اول ص ۳۳۱ و مآثر رحیمي جلد اول ص ۴۷۰ و ترجمه طبقات اکبري جلد اول ص ۳۷۹ و تاریخ فرشته جلد اول ص ۳۴۰ "لکهنوتي" و تاریخ خان جهاني (الیت جلد پنجم ص ۱۰۲۹) د تاریخ فرشته (برگس) جلد اول ص ۵۸۲

"لکهنو" زما د ورانـدي د تـاريخ فرشتـه ايډيشـن (نولکشور لکهنو) جلد ۱ ص ۱۸۵ "لکهنوتي".

دلتـه لـه دغو دواړو نومونو هر يو ممکن کېدے شي. خو نهٔ هغه لکهنوتي چې وړومبے ئې ذکـر شـوے دے. (وګورئ ص ۶۲ نوټ ۱۵ ب) ځکه چې هغه لکهنوتي لکه چې په متعلق نـوټ کښې وضاحت شوے دے د بادشاه بنګاله په مملکت کښې وۀ. د مغل اکبر باچا په عهد کښـې د بنګال په صوبې کښې شامله وه. او يو سرکار ئې هم په نامه جوړ وۀ. صدر مقام ښار ئـې په جنت آباد او لکهنوتي مشهور وۀ. چې ګوړ هم بللے شو. (آئين اکبري نولکشور لکهنو ايډيشـن جلد ۲ ص ۵۰، ۵۴) خو په هندوستان کښې يوه بله لکهنوتي هم شته چې ابوالفضل ئـې پـه سرکار سهارنپور کښې ذکر کړے دے. (ايضاً ص ۲۸ او ص ۱۴۱ نه تر ۱۴۳) په ص ۱۴۳ سهـارنپـور د مـغـربـي يو پي مشهوره ضلع ده. او صـدر مقام ښار ئې هم دغه نامه لري. د ضـلـعې نـه جـنوب ته هم د يو پي مظفر نګر او ميرټهـ ضلعې دي او شمال مغرب او مغرب ته تـرې پـه تـرتيـب د پـنجاب، انباله او کرنال ضلعې دي. د سهارنپور ښار نه د انبالې ښار شمال مـغـرب تـه دے. پـه يـو پـي کښـې د اسـلامـي عـلومو مشهور مرکز ديوبند نه شمال مغرب او سهـارنپور نه ورته مقابلتاً زيات نزدې تقريباً د څوارلسو ميلو په فاصله جنوب مغرب ته ګنګوه شـريف (د انـوار الـعـيـون د مـصـنف حـضرت شيخ عبدالقدوس رحمة الله عليه المتوفیٰ ۹۴۴ هـجـري چـې د هندوستان له اکابرو اوليا دي مسکن او مدفن (وګورئ قاموس المشاهير جلد ۲) د آنـجـنـاب دا حـکـيـمانه قول چې "محمد عربي ملاء اعلیٰ ته ورسيدل او بيرته راغلل زما دې پـه خـدائـے قـسـم وي چې کهٔ هغه مقام ته زهٔ رسيدلے وے نو بيا به نهٔ شوم راستون شوے. عـلامـه اقبـال مرحوم د خپل پنځم ليکچر "د اسلامي ثقافت روح" چې د ري کنسټرکشن آو ريلجنس تهاټ ان اسلام پنځم باب دے مقدمه ګرزولے دے. وګورئ "دي ري کنسټرکشن" ص ۱۲۴) او لـه دغـه ځايه د دريوؤ څلورو ميلو په فاصله لکهنوتي نومے ځائے پروت دے چې په هندوستان کښې د مسلمانانو د عهد حکومت ډير آثار لري.

لـکهـنو خو په ټول هندوستان کښې ډير لوے مشهور او تاريخي ښار دے چې ورسره ډيـر علمي، ادبي او ثقافتي روايات وابسته دي. د يو پي د مشرقي برخې اودهـ صدر مقام دے. د اګـرې نـه مشـرق ځـنځـو جنوب او د جونپور نه شمال مغرب ته د ګومتي سيند په غاړه واقع دے. نو دغه ځائے يا خو لکهنو او يا د سهارنپور لکهنوتي ده.

۱۴. فـرشـتـه جـلـد ۱ ص ۱۸۵ "محمد خان برادر خورد احمد خان" محمد خان د احمد خان کشر ورور.

۱۵ . دې نه پس فرشته جلد ۱ ص ۱۸۵ "او د لکهنوتي سرکار د هغهٔ د مينځني ورور سعيد خان په نامه شهٔ."

ص ۶۹

يعنې هورته ئ، هورې ئ، هلته ئ.

۲. ليندې د ن ز ۲/۷۶ او ن ح جلد ۱ ص ۲۰۸ په بنا ما زياتې کړے.

۳. ن ز ص ۲/۷۶ "وخواست ایشان را ابکند" ن ح جلد ۱ ص ۲۰۸ "وخواست که الخ" يعنې وغوښتل ئې چې دوې ووژني. ډورن حصه ۱ ص ۶۴ "اراده ئې وکړه". او لکه چې په پښتو ترجمه کښې به هم وليدل شي وژلې ئې نهٔ وو.

۴. په ن ز ۲/۷۶ او ن ح جلد ۱ ص ۲۰۹ کښې د "عيش او په عشرت" په ځائے "بزم ارائي". او وروستي په ن ح کښې د بانکي پور خدابخش لائبريری او ايشياټک سوسائټی کلکته د نسخو په حواله دا توري هم شته. "ومصاحبت اهل علم وفضلا... ...د باغونو په سير او ښکار کولو او د عالمانو او پوهانو په ملګرتيا کښې په مجلسونو جوړولو تيرې کړے."

۵. ليندې د ن ز ص ۲/۷۶ و ن ح جلد ۱ ص ۲۰۹ په بنا زياتې کړے شوے. ډورن حصه ۱ ص ۶۴ هم د دې مفهوم عبارت لري.

۶، ۶ الف. ليندې د ن ز ص ۱/۷۶ او ن ح جلد ۱ ص ۲۰۹ په بنا ما زياتې کړے. مطـ ن ز ص ۲/۷۶ او ن ح جلد ۱ ص ۲۰۹. پښتو ترجمه سوائے سوپر. ډورن هم سرې سوپر. د ن ح فاضل محشي (صفحه مذکوره حاشيه ۲) ليکي: "تاريخ فرشته جلد اول ص ۳۴۲ "سيوپور" و تاريخ فرشته (برګس) جلد اول ص ۵۸۵ "سويسپور". او نورو نسخو او کتابونو کښې د درج نوټونو، د حوالو ورکولو نه پس ليکي: "جیرٹ(آئین اکبری جلد دوم ص۱۹۰) سیور پوری یا سیوپوری رادر سرکار نرور صوبہ آگرہ نوشتہ حالاشیوپوردر ریاست گوالیار سنٹرل انڈیا است۔ رجوع کنید بہ امپیریل گزیٹیر اٹلس ۳۸ب۲"۔ يعنې جيرټ (آئين اکبري جلد ۲ ص ۱۹۰) سيورپوري يا سيوپوري د اګرې په صوبه کښې د نرور له سرکاره ښئيلے دہ. اوس شيوپور رياست ګواليار وسطي هند کښې دے. وګورئ امپيريل ګزټيير اټلس ۳۸ ب ۲.

زما په مخکښې د فرشته ايډيشن (نولکشور لکهنو) جلد ۱ ص ۱۸۵ د "سيوپور" نوم نهٔ لري. عبارت ئې داسې دے "بہ جانب ہنونت گرہ رفتہ کمکی حسین خان نومسلم باشد" يعنې هنونت ګړهـ (اونت ګړهـ) ته دې لاړ حسين خان نومسلم کومکي دې شي. البته لږ په مخ د نورو واقعاتو په ضمن کښې د "سيوپور" ص ۱۸۵ او "شيوپور" ذکر راځي. زما په مخکښې د آئين اکبري

ایډیشن (نولکشور لکهنو) جلد ۲ کبنې د "صوبه دار الخلافت اګره" ذکر د ص ۸۴ نه شروع کیږي. او د مختلفو سرکارونو نامې او جزئیات چې د ص ۸۵ نه ئې ابتدا ده لړي په ص ۹۰ د سرکار نرور لاندې د سیوپور ذکر کوي او په حقله ئې وائي چې د "ګتهو کوټ لري."

مونږ له دې ورومبې په اونتګرهـ، نرور، شیوپور، سپري یا شیوپوري مفصل بحثونه کړي دي چې یاد آوري به ئې مفیده وي، دا ځائې چې اوس د نظر د وړاندې دے یا شیوپور یا شیوپوري دے. خو د ن ح د فاضل محشي د بیان له اندازه دا لیدهٔ شي چې هغه د جیرټ د آئین اکبري ص ۹۰ کبنې یاد شوے "سیورپوري" یا "سیوپوري" او شیوپور یو ځائې ګڼي. لکه چې مونږه اګاهو وضاحت کړے دے سپري یا شیوپوري د ګوالیار ریاست د نرور ضلعې صدر مقام او له نرورہ جنوب مغرب ته دے شیوپور هم د دغه ریاست د شیوپور نومې ضلعې صدر مقام دے چې د شیوپوري نه شمال مغرب ته پروت دے. او د اونتګرهـ یا دیو ګرهـ نه جنوب ته.

۷. اضافه د فارسي نسخو په بنا.

۸، ۸ الف. ن ز ص ۷۸/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۱۱ "لقمہ(چند)طعام وقطرۂ آب درگلوے سلطان نہ مي رفت" یعني (څو) نمړی خوراک او څاځکے اوبهٔ د سلطان تر مریه نهٔ تیریدے. (چند) صرف په ن ح کبنې د تاریخ خان جهاني مخزن افغاني د رامپور ستیټ (رضا) لائبریری د نسخې په حواله.

د دې نه ورومبے دا عبارت دے: "----غالب شد۔ وہر چند اطباء حاذق کہ ہر یکے جالینوس وافلاطون وقت خود بود در معالجہ آں سعی نمودند سود مند نہ افتاد و در طبیعت اختلال تمام پدید آمد و کار بجائے رسید کہ لقمہ چند" الخ. یعني غلبه وکړه او کهٔ هر څو ئې پوهه طبیبانو چې هر یو د خپل وخت جالینوس او افلاطون وهٔ د علاج مبنود وکړو خو فائده ئې ونهٔ کړه. او طبیعت ئې ډیر ناچاقه شو او کار تر دې حده ورسید چې (څو) نمړی. الخ.

۹. ډورن حصه ۱ ص ۲۵: "۹۲۳" (سن بغیر له تاریخه لکه پښتو ترجمه کبنې). ن ز ص ۷۸/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۱۱ "روز یک شنبہ ہفتم ماہ ذی القعدہ ۹۲۳ ہجری ثلث وعشرین وتسعمایہ از ین تنگنائے عالم فانی بوسعت آباد مملکت جاودانی انتقال نمود۔ بیت:

سکندر شه هفت کشور نماند　　نماند کسے چون سکندر نماند

فرشته: "روز یک شنبہ ثلث وعشرین وتسعمایہ بدار السرور تشریف برد قطعہ:

ساقیانند درین بزم بدین بے رحمی　　کہ چو ہنگام طرب جام بزور گیرند
کاس عشرت ز گل خاک سکندر سازند　　بادۂ عیش ز خون دل سنجر گیرند"

(جلد ۱ ص ۱۸۶) او کوم شعر چې خواجه نعمت الله راوړے دے. په ص ۱۸۸.

منتخب التواريخ اردو ترجمه ص ۲۱۳ "۱۷ ذي قعده په ځائے د ۷ ذي قعده معلوميږي چې اصل فارسي هم دغسې وه. "هفدهم ذي قعد" وګوري د ن ح ص ۲۱۱ حاشيه ۱ کښې تاريخ بداوني ته حواله. عبدالقادر بدايوني د منتخب التواريخ مؤلف دے.

ن ز ص ۷۸/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۱۱ "نزديک مقبره پدرور باغ جود که خود ساخته بود" يعني د پلار قبر ته نزدې په باغ جود کښې چې دۀ جوړ کړے وۀ. يا په باغ جود کښې چې د پلار قبر ته نزدې چې دۀ جوړ کړے وۀ.

ص ۶۹

۱. مط ن ز ص ۷۸/۲ و ن ح جلد ۱ حاشيه ۱ د آئين اکبري په بنا چې کيتهر چې د بنارس له محالاتو ځنې وۀ زما د وړاندې د آئين اکبري (نولکشور لکهنو ايډيشن) جلد ۲ په ص ۷۳ په سرکار بنارس شرقي کښې کتهير چې د پښخو ځښتو کوټ لري.

د ن ح فاضل محشي ليکي چې کتيهر د روهيلکهند زوړ نوم دے نو د نظر د وړاندې ځائے نه د سرکار بنارس کاتيهر مراد دے. د موصوف په تائيد کښې دومره نور عرض دے چې کتيهر د علاقې او دلته د بحث لاندې نوم د موضعي (کلي) دے. ډورن (حصه ۱ ص ۲۵) د دغه ځائے هجه Katbhur کتبهر کړې ده.

۲. ډورن حصه ۱ ص ۲۵ "پياده" Piada "پيارا" مينه وړ، چې "پيار" مينه ورسره کړۀ شي.، محبوب.

۳. ډورن (حصه ۱ ص ۲۵) "شيخ بيديه" Bedeh بده، عارف، عالم، هوښيار، پوه. خو د بدهو معنیٰ په عکس ناپوهه، باتريا او کم عقل ده. ګوندې "شيخ بده" کښې "بده" د "بوډا" مفرس وي. د بډا، برا، او وډا يوه معنیٰ ده يعنې لوے او مشر. د بډها (بوډها، بوړها) مفرس هم کيدے شي په معنیٰ د بوډا، مشر.

۴. ن ز ص ۷۸/۲ و ډورن حصه ۱ ص ۲۵ ايضاً. ن ح جلد ۱ ص ۲۱۴ "لکهنو" ليکن حاشيه ۱ د مخزن افغاني او تاريخ خان جهاني د نورو نسخو په حواله لکهنوتي.

۵. فارسي نسخې ن ز ۷۸/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۲۱۴ "به نفس يک ديگر فتوی دادند" يعني له يوۀ بله ئے مختلفې فتوې ورکړے. ډورن حصه ۱ ص ۲۵ "په رائے کښې ئې اختلاف وۀ چې آيا بودهن د قتل د سزا وړ دے کۀ نه."

۶. ن ز ص ۷۸/۲ و ۷۹/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۱۴، ۲۱۵ د عالمانو نامې هم ورکوي. ميان قارن، ميان عبد الله او پسر شيخ محمد له دهليه، مولانا قطب الدين، مولانا الله داد، مولانا

صالح له سرهنده، سید امان سامانیه، او سید اخن له قنوجه او علما چې همیش به د سلطان سره وو لکه سید صدر الدین قنوجي او عبدالرحمٰن د سیکری او مولانا عزیز الله سنبهلي. ن ح د اتم یعنې د سید اخن په ځائې سید احسن ګوندي سید اخون وي او میان قارن میان تارن وي.

۷. مط ن ز ۷۹/۱ او ن ح جلد ۱ ص ۲۱۵. ډورن حصه ۱ ص ۲۶ ځائې، موقع (spot) پښتو "مسجد".

۸. ډورن حصه ۱ ص ۲۶ ایضاً. فارسي نسخې (ن ز ص ۷۹/۱ ن ح جلد ۱ ص ۲۱۵ ''روزے کہ برادر خود باربک شاہ جنگ میکرد۔'' یعنې هغه ورځ چې له خپله وروره باربک شاه جنګیدلو. فرشته جلد ۱ ص ۱۸۶ "روزے بابرادر خود" الخ یعنې یوه ورځ له خپله وروره الخ. غالباً چې "روزے" نه پس "که" مؤلف یا کاتب نه سهواً پاتې شوے دے.

ص ۷۱

۱. ن ز ص ۷۹/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۲۱۶ ''درآن چہ خیریت مسلمانان باشد آن چنان شود در فتح ہر کہ صلاح خلق باشد از حق باید خواست۔'' یعنې هغه دې شي چې د مسلمانانو پکښې خیر وي. او د وګړي ښیګړه چې د چا په برې کښې وي هغهٔ لره ئې غوښتے بويه. فرشته جلد ۱ ص ۱۸۶ ''آنچہ خیر اہل اسلام است آن شود'' یعنې هغه دې شي چې مسلمانانو لره ښهٔ وي. ډورن حصه ۱ ص ۱۲۶ مطابق ن ز و ن ح.

د افضل خان په ترجمه کښې د عیال الله تلمیح دے حدیث ته دے. "الخلق عیال الله فاحب الخلق الی الله من احسن الی عیاله" یعنې مخلوق د خدائے عیال دے او د خدائے هغه خوک ډیر خوښ دے چې د خدائے عیال سره ډیر ښهٔ کړي:

۲. د هندونو مشهور مذهبي مقام دے. د دهلي نه جنوب، ډیر مشرق ته، د اګرې نه شمال مغرب او علي ګړهـ نه جنوب مغرب ته. وروستو دوؤ ځایونو ته مقابلتاً زیات او تقریباً یو شانْ نزدې دے.

۳. لکه چې د ن ح فاضل محشي (جلد ۱ ص ۲۱۶ حاشیه ۳) لیکي "د فرشته له بیانه معلومیږي چې د هندوانو ټول ځایونه نهٔ وو وران شوي د خپلې دې رائ ظاهرولو نه وروستو د فرشته (جلد ۱ ص ۱۸۶) کوم الفاظ چې ئې نقل کړي دي دا دي ''در بہتر جائے ہا کہ ہندوان غسل میکردند سرا و مسجد و مدرسہ و بازار ساختند۔'' یعنې په ښو ځایونو کښې ئې چې هندوانو به پکښې لامبل سرایونه، جماتونه، مدرسې او بازارونه جوړ کړل. دلته ډورن (حصه ۱ ص ۲۶) داسې ترجمه کړې ده چې ګماشته ئې مقرر کړل چې کفار په هغه ځائے له عبادته منع کړي.

۴. ن ز ص ۷۹/۲ ن ح جلد ۱ ص ۲۱۹ ''وحجام نتوانست که سر کافرے را تراشد'' یعنې او حجام نهٔ توانیدو چې د چا کافر سر کل کا. فرشته جلد ۱ ص ۱۸۶ ''واگر در بلدهٔ متهم اهندوے ارادهٔ سر یا ریش میکرد وحجام قبول واعلام رسوم کفار را مطلق بر انداخت.''

۵. ن ز ۷۹/۲ ن ح جلد ۱ ص ۲۱۷ ''ونیزه سالار مسعود غازی که هر سال به بهرائچ می بردند منع فرمود و عورات را'' الخ یعنې د سالار مسعود غازي نیزه وړل ئې چې هر کال به بهرائچ ته وړل شوه منع کړل او ارتینې ئې الخ.

ترجمه د ن ح ص ۲۱۷ و حاشیه ۱ : "سالار مسعود غازي د سلطان محمود غزنوي خوریے وهٔ د سلطان محمود په وخت بهرائچ ته راغے. هغه وخت د نولسو کالو وهٔ. په ۴۲۴ هجري (۱۰۳۳ء) کښې هندوانو سره په جنګ کښې شهید شو. او هر کال د جیټھ په ورومبي اتوار د هغهٔ په یاد کښې مسلمانان نیزه وچته کړے ګرځوي. سلطان سکندر دا رسم منع کړو.

د سید سالار مسعود د پلار نوم سالار ساهو یاد شوے دے. هندوان سره د ډیرو جنګونو نه پس په پورتني القباس کښې درج کال کښې د بهرائچ په جنګ کښې شهید شو. مزار ئې هم په بهرائچ کښې دے. هر کال د جیټھ په وروميي اتوار ئې په یاد کښې میله لګي. (وګورئ قاموس المشاهیر جلد ۲ ص ۲۱۴) نو کهٔ راغلے د سلطان محمود په ژوند وي خو شهادت ئې د هغهٔ له وفاته درې کاله پس شوے وهٔ. خو ډاکټر عبدالحلیم لیکي چې سالار مسعود غازي د سلطان خوریے کیدل پوره طور ثابت نهٔ دي او وائي چې د هغهٔ پلار سالار رجب د سلطان محمود فوځ سره هندوستان ته راغلے وهٔ. سالار مسعود په اجمیر کښې زیږیدلے وهٔ او په بهرائچ کښې د نولسو کالو په عمر کښې په ۴۲۹ هجري کښې د راجه شاهر دیو له لاسه وژلے شوے وهٔ. (دي لودي سلټانز ص ۱۲۱ حاشیه ۱) هجري کال ۴۲۹ عیسوي کلونو ۳۸–۱۰۳۷ء سره سم دے.

د بهرائچ ضلع د یو پي صوبې چې صوبه شرقاً غرباً واخلو په وسط او صوبه چې شمالاً او جنوباً څیرو په انتهائے شمال کښې ئې نیپال جنوب ته پرته ده. د نیپال جنوبي حد ئې زیات تر مشرق ته او لږ مغرب ته دے. د بهرائچ ښار د لکھنو نه شمال مشرق او فیض آباد. ایو دهیانه شمال مغرب ته دے.

۶. د هندوستان د اسلامي عهد له مشهورو مشائخو څنې دي. نور ذکر به ئې زر په دغو تعلیقاتو کښې په خپل ځائے راشي.

ص ۷٦

بناغلي لوستونکي به سره له تعجبه وخيري چې زمونږ د چاپ کتاب د صفحو (چې د اوراقو د سر د پاسه ليکلي دي) ۸۳ نه تر ۹٦ په مينځ کښې چې د قلمي نسخې کومې صفحې يعنې ۷۱ نه تر ۸۰ ښئيلې شوې دي د هغو ترتيب ګډوډ دے . د دې سبب دا دے چې په قلمي نسخو (ن ا) کښې د دغو صفحو په ترتيب يا تسلسل کښې خو هيڅ فرق نشته خو په دغو صفحو عبارت د ن ا (چې زمونږ د چاپ کتاب اساس ده) کاتب ګډوډ ليکلے دے . مثلاً چې د قلمي نسخې د ص ۷۱ دې ځائے ته ورسو "او عرض ئې وکړ چې ځۀ" نو ورپسې جخت عبارت (په قلمي نسخه کښې) ورسره تعلق نۀ لري. بلکې ورسره متعلق عبارت د قلمي نسخې د ۷٦ نه چرې شروع کيږي، او د قلمي نسخې د ۸۰ څۀ حصې پورې تلے دے . دلته بيا د عبارت د تسلسل قائم ساتلو دپاره ضروري وه چې مونږ دوباره ص ۷۱ ته راشو . او ص ۷٦ پورې لاړ شو. د ص ۷۲، ۷۳، ۷۴، ۷۵ (چې مو پريښے وے) نه علاوه د ص ۷۱ او ص ۷۲ بقايا حصې هم وليکو. د ص ۷۱ او ص ۷٦ دغو بقايا حصو له مو د ۷۱ ا او ۷٦ ا نخښې ورکړے. د ۷٦ ا نه پس مو د ص ۸۰ هغه برخه چې مو ص ۷۱ ته دوباره د تلو دپاره پريښے وه وليکله. او ص ۸۰ ا نخښه مو ورکړه. له دغه پسه بيا عبارت او هم صفحې مرتبې دي دغه شان لکه چې بناغلي لوستونکي به لطفاً وخيري د عبارت په تسلسل کښې هيڅ فرق نشته. نو هر کله چې د ن ا صفحې مسلسلې دي او عبارت ئې بې ترتيبه او ګډوډ نو د عبارت سمولو نتيجه به ئې لازماً دا وه چې د صفحو (چې دغه عبارت پرې راغلے دے) ترتيب مو بدل کړے دے.

۱ الف. ن ب "اسعدک الله في الدارين" يعنې خدائے دې تا په دواړو جهانونو کښې بختور کړي. دغو الفاظو سره استاد و شاګرد ته د صرف ښئينه شروع کوي.

۲. ن ز ص ۲/۸۰ و ن ح جلد ۱ ص ۲۱۹ "سلطان گفت باز بگوئید تا سه مرتبه از شیخ تکرار کنانید". يعنې سلطان ووې بيا ووايئ تر دې چې درې ځله ئې په شيخ (دا کلمه) تيره کړه. ډورن حصه ۱ ص ٦٦ مط پښتو ترجمه.

۳. ن ز ص ۲/۸۰ و ن ح جلد ۱ ص ۲۱۹ "نظام خان از خدا خواسته ام ان شآء الله تعالیٰ سکندر وقت خود باشی". يعنې نظام خانه له خدايه مې خواست کړے دے ان شآء الله د خپل وخت سکندر به ئې.

۴. دا درې شعره مثنوي فارسي نسخو کښې نشته.

۵. دا پښتو شعر صرف په پښتو ترجمه کښې دے . مرزا د بايزيد ارمړ عرف پير روښان يا پيرتاريک د زوي نور الدين زوے او د پښتو له ډيرو لويو شاعرانو څخې يو دے . دغه شعر ئې

په هغه غزل کښې راځي چې مطلع او مقطع ئې دا دي:

چې زما لګه نظر په دا درياب شهٔ — د اوبو په مخ مې فهم په حباب شهٔ

مرزا په خپل مقدار کلام وئيلے — د اشنا په نظر څرنګ انتخاب شهٔ

(ديوان د همېش خليل مرتب کړے ص ۹۵، ۹۷)

ن ز ص ۲/۸۰ و ن ح جلد ۱ ص ۲۱۹ "شيبه".

ص ۷۷

فارسي نسخې "---نردموانست کی بازد" ـ ن ز ص ۲/۸۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۲۰، ۲۲۱. نرد يو لوبه ده چې لکه د شطرنج په بساط کيږي.

ص ۷۸

قوسين د فارسي نسخو ن ز ص ۲/۸۲ و ۱/۸۳ و ن ح جلد ۱ ص ۲۲۳ "(هرادر) خرد" ن ح کښې شته ن ز کښې نشته.

۲. يعنې ميان بهووه فريقين او هغه ګواهان چې دهٔ ته د هغې ارتينې ليور پيش کړي وو دوي تول ئې سلطان ته حاضر کړل. د ن ز ص ۱/۸۳ او ن ح جلد ۱ ص ۲۲۴ له رويه ميان بهووه ته چې د هغې ارتينې ليور ووې چې ما لعل هم خپلې ورندارې ته ور کړے دے نو ميان بهووه ترې پوښتنه وکړه چې ګواهان لرے نو هغهٔ کړهٔ چې هو دوه بامبړان ورونه. ميان بهووه ورته حکم وکړو چې حاضر ئې کړه. دغه دوه کسان لکه چې دغه دوه فارسي نسخې وائي دوه جوارګر وو چې مدعا عليه پس له ور کړې بنهٔ پوه کړي وو او د سپين روبو جامې ئې ور اغوستولے وے. د فرشته جلد ۱ ص ۱۸۷ له رويه هغه دوه بامبړان چې جوارګر (و الخ. ن ز .... دو بردارند" ن ح "دو (برادر) برهمن اند" فرشته "دو برهمنانند" په ن ح کښې (برادر) د بانکي پور خدابخش لائبريری د نسخې په بنا اضافه ده.

ص ۷۹

ن ا "کلرحي". ن ب "کلوخي". ن ز ص ۲/۸۳ ن ح جلد ۱ ص ۲۲۵ فرشته جلد ۱ ص ۱۸۸ "کلرخے".

۲. ن ز ص ۲/۸۳ و ن ح جلد ۱ ص ۲۲۵ "---از سیر و سفر ماوراء النهر و عراق و خراسان و آذربائیجان و روم و شام و عرب" الخ.

۳. پښتو نسخې — ورشيخ زدوستان کهدسر — تشريف شريف نادر دګر

۴. دلته ن ا هم صحيح "کلوخي" يا (کلوخے، ګرـخ). ن ب هم "کلوخي".

۵. پښتو نسخې "آن ماه شود زدیده ام دور".

ن ز ص ۲۰۱/۸۴، ۲ و ن ح جلد ۱ ص ۲۲۶، ۲۲۷ د بیان حاصل دا دے چې اګر کۀ شیخ جمالي صاحب نۀ ورتلل او وئیل ئې چې د فقراؤ له اغنیاؤ څۀ خو سلطان د هغوي سخر شیخ سماء الدین صاحب ته ولیکل او د هغوي په ترغیب او نصیحت چې د فقیرانو د بادشاهانو سره ناستے هم حکمت لري ورغلل.

۷. د سلطان سکندر د شخصیت جاج:

نظام الملقب به سکندر لودي په هندوستان کښې د لودي کورنۍ دویم باچا نۀ صرف د دې کورنۍ په دریو باچهانو کښې له ټولو لوے حکمران دے بلکې د اسلامي هند په تاریخ کښې لـه هغو څو فرمان روایانو څخې یو دے چې په هر لحاظ د عظمت ښښتنان او د عزت وړ دي. او ګوندې د اسلامي هند په تاریخ کښې د تاج او تخت داسې ښښتن وي چې هغه په ګرد حیثیت په خپل شخصیت کښې د لوړ والي او کردار کښې د ښو او ښکلا دومره ډیرې رنګارنګ نخښې لري لکه دا پښتون باچا. او کۀ هر څو یا بې غرضه بې ارادې د هغو خلقو د مذهبي تعصب، د رواداری نه د منافي ملهبي جذبې او جوش له قبله چې سلطان سکندر ورته لکـه چې هغه وۀ یو ښۀ مسلمان حکمران ښکاریدو او نتیجةً ئې د کافرو د خواریدو او لغړیدو په حقله د داستان سازی د میلان او پرې د نورو د باور د رجحان په سبب او/یا د ځنې غرضونو او مصلحتونو چې د مغلو سیاست سره تړلي وو ارادةً د تاریخ په پاڼو د سلطان د ښائسته کړۀ وړۀ د پاکولو او د هغۀ د سمې او دنګې ونې د کږولو او ټیټولو زیار کاږلے شوے دے. نو کۀ د ژوره غوره سره د څیرې د بنیادي رنګ او نقش او بیا ئې په مجموعي حیثیت هم د ښۀ پامه سره نـنداره وشي نو هسې به بریښي چې د څیرې دا بدرنګه نخښې او ورانې کړښې د اصلي صورت برخې نۀ دي. او کۀ څۀ وي هم نو د څیرې د ښښتن د شخصیت او کردار د ښاغلتیا او ښکلا کښې په مجموعي حیثیت څۀ خاص مخالف اثر نۀ شي پیدا کولے.

د سلطان د زمانې یا ورته نزدې تقریباً ټول تاریخي آثار په خصوصیت د دې خبرې ذکر کوي چې سلطان ته خدائے پاک ډیره ښښتلے جُثه، دنګه ونه او ښکلے او ښائسته مخ بخښلے وۀ او دغو خوبیو سره ئې ورته ګڼې ښیګړې هم بخښلے وې. سلطان هم دیندار او متقي وۀ او ورسره ډیر توریالے، مړنے او غیرتي هم. هم خوارې کښں او په ګرانو سختو کښې ټینګ او کلک وۀ. او بیا فیاض، سخي، عادل منصف او په رعیت ډیر مهربان وۀ. پخپله عالم، په علم مئین، پالونکے او روزونکے ئې او د عالمانو، هنرورو او درویشانو قدر کونکے وۀ.

ملا محمد قاسم فرشته په خپل تاریخ کښې وائي چې نظام الدین په خپل کتاب کښې لیکي چې د سلطان په حقله څۀ وئیلي شوي دي مبالغه آمیز دي. خو چې څۀ حقیقت او واقعاتو

سره سم دي هغه ليکل شي. او بيا ئې چې د سلطان د لوړ شان په حقله څۀ ليکلي دي د مغلو بادشاهانو د سرپرستي او نګراني لاندې ليکلې شوؤ تاريخونو کښې هم د هغوي شخصيت داسې ځلاند نۀ دے لکه د سلطان سکندر. (وګوري جلد ۱ ص ۱۸۶-۱۸۸)

خافي خان د اورنګ زيب د وفات د ذکر نه پس د هغۀ د اخلاقو د جاج اخستو په لړ کښې وائي چې نۀ صرف په مغلو باچهانو کښې بلکې د اسلامي هند په ټولو باچهانو کښې لکه دا باچا به "حسب ظاهر" متقي، پرهيز ګار او عادل وۀ نو د سلطان سکندر لودي نه پس داسې بل نۀ دے تير. (منتخب اللباب حصه ۲ ص ۵۵۰) [د "حسب ظاهر" لفظونه خافي خان د اورنګ زيب برخلاف د خيال الګيزی دپاره استعمال کړي دي او دغسې خيال الګيزی د هغۀ په تاريخ "منتخب اللباب" کښې لوړې هم شته ځکه چې د خافي خان پلار د مراد بخش ملازم وۀ]

يو معاصر هندو مؤرخ ډاکټر سري واستاوا ليکي چې "د مينځنی دورې مؤرخالو د سلطان سکندر بې ساخته ستائنه کړې ده او بنيئلې ئې دي چې له حده تير قابل، عادل، فياض او خدائے ترس باچا وۀ او د نوې دورې ليکوالو عموماً د دغه رائې مرسته کړې ده. (دي سلتنټ آو ډيلهي ص ۲۷۲، ۲۷۳)

سلطان نۀ صرف يو بهادر پښتون وۀ بلکې ډير ښۀ سپاهي او جرنيل او لوے فاتح هم وۀ. هغۀ د خپل پلار سلطان بهلول د مملکت مزې چې په شمال مغرب کښې عملاً د مغربي پنجاب تر حدودو او جنوب مشرق کښې د جونپور د شرقي سلطانانو د مملکت تر بريده وه. يو خوا سهيل خاتيز لور ته د بنګال تر حدودو او بل خوا سهيل ارخ ته د مالوې بلکې د دکن مزې ته نزدې کړل او دغسې ئې ټوله يو پې، بهار او د وسطي هند يوه لويه برخه په خپل مملکت کښې شامله کړه. اګر کۀ د ډاکټر پانډے په رائې کښې سلطان په حيثيت د يو فوځي قائد د لويو صلاحيتونو څښتن نۀ وۀ د بهټه راجګان ئې مات نۀ کړے شول او محاصرو کښې ماهر نۀ وۀ. (دي ارلي ميډيول انډيا ص ۴۱۳، ۴۱۴) خو د ستائيلي مؤرخ دا رائې نۀ صرف د زړو او نوؤ مؤرخانو له رائې بيله ده بلکې له واقعاتو هم قطعاً په عکس. د سلطنت دغه دومره پراخونه چې د ډيرو عسکري مهمونو، جنګونو او محاصرو چې سلطان به ئې اکثر پخپله کمان او نګراني کوله نتيجه وه او بې د قائد ئې له لويو عسکري صلاحيتونو لرلو ممکنه نۀ وه. تر څو چې په محاصرو کښې د مهارت تعلق دے د دهولپور اونتګرهـ او د نرور د کوټونو په ډيرو مشکلو حالاتو کښې محاصرې او تسخير او د ګواليار د راجه باوجوډ د يوۀ ډير لوے او محکم کوټ د لرلو د سلطان اطاعت کوم د کوټونو په ګيرولو او نيولو کښې د سلطان په اهليت او قابليت ګواهي لي. د چنار (چنارهـ يا چناډهـ) د مصلحت له رويه په يوۀ وخت

محاصره نهٔ کول یا له باندهو ګړهه بې له تسخیره واپس کیدل د دغه اهلیت او قابلیت نفي نهٔ کوي. د بهار ملک بې د چنار د محاصرې سلطان په خپل وخت واخست. تر څو چې د بهټه د راجګانو تعلق دے نو هغوي لکه چې زمونږ له کتابه او له نورو تواريخونو هم ښکاره ده هميشه د سلطان په مخکښې تيښت کړے دے. او هر کله چې ورته ودريدلي دي نو بس هم لږ ايسار شوي دي. د باندهو ګړهــ نه بې له تسخيره د سلطان د واپس کيدو باوجود هم محصورين نهٔ توانيدل چې راوتے وے او په سلطنت ئې حمله کړے يا ئې ورله لار وهلے وے.

د سلطان محمود غزنوي او سلطان شهاب الدين غوري نه پس د سلطان سکندر لودي پلار سلطان بهلول لودي کهٔ دا لوے کار کړے وهٔ چې د پښتنو، ترکانو او نورو مسلمانانو چې تر هغه وخته هندوستان کښې آباد شوي وو نه علاوه د پښتنو لوے ګڼې ئې هندوستان ته راوغوښتے او پکښې ئې ابادې کړلے. (د تاريخ خان جهاني يا مخزن افغاني په تاليف کښې د خواجه نعمت الله د ملګري هيبت خان کاکړ ستر نيکهٔ ملک فيروز هم په دغو پښتنو کښې وهٔ چې د سلطان بهلول په بلنه له پښتونخوا و هندوستان ته تللي او هورې اباد شوي وو). نو سلطان سکندر نهٔ صرف د پښتنو دا لوے خدمت وکړو چې د هغوي يو لوے او مضبوط سلطنت ئې په هندوستان کښې جوړ کړو بلکې د هندوستان مسلمانه ابادي ئې ډيره محکمه او مضبوطه کړه. او اګر کهٔ هغه لوے مملکت څهٔ د هغهٔ د زوي او جانشين سلطان ابراهيم د غلطو او څهٔ د پښتنو د بې اتفاقۍ، بې حسۍ او بې حميتۍ له قبله د هغوي له لاسه ووتو خو د سلطان بهلول او سلطان سکندر کار او آثار او نتائج ئې نهٔ صرف يو ځل بيا د پښتنو د سوري کورنۍ د حکومت په قيام کښې بلکې د ابتدائي زمانې له رقابته او مخالفته قطع نظر هندوستان کښې د نورو مسلمانانو (مغلو) د غيرو په مقابله کښې د حکومت په استحکام او اقتدار کښې يو ډير لوے عنصر وهٔ.

لکه چې وړومبے هم ووئيل شول سلطان سکندر کهٔ يو خوا يو ډير ښهٔ سپاهي، لوے جرنيل او فاتح وهٔ نو بل خوا ورسره يو ډير ښهٔ منظم او د ملک او رعايا د رفاهيت او ترقۍ ښيګړې او خوشحالۍ د کارونو هم تر سره رسونکے او د امن په وخت کښې د تهذيب، تمدن، علم، ادب او ثقافت پالونکے وهٔ. د لانديني تاريخي شواهدو نه د دغې دعوې تصديق په ښهٔ شان کيږي.

(۱) د ژوند دپاره د ضروري شيانو نرخنامې مقرر وے. د دوئ په حقله واقعات او روزنامچې به باقاعده د سلطان په خدمت کښې ليږلے کيدے. هغهٔ به پخپله اوريدے. او که څهٔ مناسبه تبديلي به چرې راقع شوې وه نو فوراً به لرې کړې شوه.

(۲) لـه ملکه ئې د بیګار قاعده بالکل ورکه کړې وه او د پرګنو په کلیو کښې هم د چا ملازم دا مجال نۀ وۀ چې له چا ئې یو کټ یا لوښے هم په زور زیاتي او بې پیسو اخستے وے.

(۳) د هغې زمانې سره سم د ډاک ډیر ښۀ او باقاعده انتظام وۀ. د باچا هر فرمان او حکم به په وخت امیرانو او جاګیردارانو ته رسیدو. د جنګونو او مهمالو په وخت به هم باقاعدګی سره د فوځ دپاره دوه فرمانونه یو سحر او یو مابنام خپل ځائے ته رسیدل. حال دا چې ځنې وخت به ترمیـنځـه مزل پینځۀ سوه میله وۀ. په فرمانونو کښې به د فوځ د نقل و حرکت په باره کښې تـفـصیلي هدایات وو او د ملک د هر ځائے اطلاعات له هره قسمه به هم سلطان ته باقاعده او بـرابـر رسیـدل. له یوۀ ځایه نه بل ته د فرمانونو او خبرونو وړلو دپاره به په بیلو بیلو ځایونو په سرایونو کښې د ډاک اسونه تیار ولاړ وو.

(۴) د سـلـطـان د خـفـیـه خبـر رسـانـي مـحکمه دومره منظمه او مستعده وه چې هغه به ئې د مـملکت د لویو وړو حالاتو نه تر دې حده باخبر ساتلو چې په عوامو کښې دا خیال پیدا شوے وۀ چې د سلطان په قبضه کښې پیریان دي او هغوي ورته حال وائي.

(۵) د سـلـطـان سـکـندر په عهد کښې د جاګیردارانو او کاشتکارانو دواړو ډلو آمدنی ډیرې زیـاتې شوے وے وبله څۀ ډیر ښۀ او خوشحاله وو او کرکیلې ډیره ترقي کړې وه. سلطان به د دې خبـرې خـاص خیال ساتلو چې څوک جاګیردار په چا کاشتکار زیاتے ونۀ کړي. یو ځل د پـټـنـې (بهار) د علاقې یو کاشتکار د خپل نائک جاګیردار په سر بادشاه ته عرض وکړو چې جـاګیـر دار زۀ لـه خپـلـې زمـکـې بې دخله کړے یم. سلطان چې د دې مقدمې د فیصلې دپاره کـومـه جـرګـه مـقـرر کـړې وه. د هـغې فیصله چې ورله د کاشتکار په حق کښې د جاګیردار برخلاف راورسیده نو جاګیردار ئې راوغوښت او ورته ئې ووې چې هر کله زما دا قطعي حکم دے چې هیـڅـوک دې پـه خپـل مـاتـحـت زور زیـاتـے نـۀ کوي او پـه دغـه حکم کښې د جـاګـیـردارانو د حقوقو وضاحت هم شوے دے نو تا ولې دا کار کړے دے؟ جاګیردار د قصور اقـرار او د بـخـښـنـې خـواست وکړو سلطان هغه ډیر ملامته کړو اګر کۀ هغۀ له ئې نوره سخته سزا خو ور نۀ کړه خو جاګیر ئې ترې همیشه دپاره واخست.

(٦) سـلـطـان سکندر په خپل مملکت کښې ځائے په ځائے عدالتونه قائم کړي وو او پکښې قـابـل او دیـانت دار حاکمان او ورسره مشیران مقرر کړي وو. چې ورته دا حکم وۀ چې د ني ... فیصلو کښې دې له هره قسمه پره داری نۀ ځان وژغوري. خپل خاص عدالت کښې مقدمو په ... اره مشیران مقرر کړي وو. د عدالت د حاکم دپاره دا حکم وۀ چې له سحره تر ني هم ځان هم ... الت پـه څوتره ناست وي چې څوک فریادي له داده محروم لاړ نۀ شي. د مـابنـامـه دې د عـد...

علاقې د عدالت حاکم سره به دولس قانون دان عالمان مقرر وو چې حاکم به د تنازعې واقعاتي تحقيق او تفتيش وکړو نو نتيجه به ئې د قانوني اطلاق دپاره هغو عالمانو ته وړاندې کړه. هغو به چې فتوئ ورکړه نو سلطان لره به ولېږلې شوه چې توثيق، ترميم، تنسيخ چې څهٔ او څنګه ئې مناسب ګڼي وې کړي. دغه شان سلطان د مرافعې د عدالت کار کولو علاوه له دې څنې اهم مقدمات به چې مالګزارۍ سره ئې تعلق لرلو ورته براه راست پيش کېدل. څنې نور ديواني او فوځداري مقدمات به هم چې د نورو عدالتونو له اختيار سماعته به بهر وو يا د څهٔ خاص وجوهاتو له قبله به ئې حالات متقاضي وو سلطان پخپله اورېدل. د سلطان په وخت کښې د عدالتونو په حقله تاريخي بيانونو نه معلومېږي چې څنې وخت به د مقامي يا علاقائي عدالت له فيصلې آزرده فريق پخپله هم سلطان ته مرافعه کولې شوه. ګونديې د څنو مقدماتو (لکه د داسې فوځداري مقدمو چې سنګينې سزاګانې به پکښې تجويز کېدې يا د ډېر زيات سود زيان ديواني تنازعو) فيصلې خو به پخپله حاکمانو لکه چې ورته حکم شوې وهٔ سلطان ته رالېږلې او په نورو مقدماتو کښې له فيصلې آزرده فريق کهٔ غوښتې پخپله سلطان ته اپيل يا مرافعه کولې شوه. سلطان به د دې خبرې هم ډېر خيال ساتلو چې قضيې بې موجبه نهٔ ځنډېږي. چې د بهار د جاګيردار او کاشتکار چې پورته ئې ذکر شوې دې د مقدمې فيصله تر دوؤ مياشتو فيصله نهٔ شوه نو سلطان ميان بهووه ته چې د تحقيقاتي جرګې مشر وهٔ وليکل چې څهٔ بلا راغلې ده چې تراوسه د مقدمې پريکون نهٔ دې شوې؟ نن (زما د حکم د رسيدو تر وخته) کهٔ د مقدمې فيصله نهٔ وي شوې نو نهٔ خو دې حاکم او نهٔ د هغهٔ ملګرې مشوره ورکونکي عالمان او نهٔ مدعا عليه دې له عدالته ځي. د سلطان په عدالتي نظام کښې يوه بله خبره چې د خصوصي پام او ستائنې وړ ده دا ده چې هغهٔ د عدليې ډېره نمانځنه کوله او وقار ئې ورله ډېر وچت کړې وهٔ لکه چې په تير مد کښې عرض وکړې شو په يادې شوې مقدمه کښې سلطان د مدعا عليه جاګير ضبط کړو او نوره سزا ئې ور نهٔ کړه. د نورې سزا نهٔ ورکولو وجه ئې مدعا عليه جاګيردار ته خطاب کونکې دا بيان کړې وهٔ چې تا دپاره دا هم ډېره ده چې د عدالت په مخکښې ملامته شوې. يعنې د يو شريف او مهذب انسان دپاره قيد، بند او تازيانه يا نور جسماني اذيت يا مالي نقصان دومره لويه سزا نهٔ ده لکه د عدالت هغه مجرم ګرځول. د سلطان له دغې وينا کهٔ يو خوا د هغهٔ تر پام او نظره د عدليې د اهميت او احترام اندازه په ښهٔ شان کېدې شي نو دا ترې هم ښکاري چې د هغهٔ په خپلې عدليې څومره اعتماد وهٔ. او دا هم هغه وخت کېدې شو چې د سلطان د سختې نګرانۍ نه پس د عدليې ارکانو د قابليت او ديانت دوارو له رويه ځان د دغه اعتماد اهل ثابت کړې وي.

(۷) سلطان سکندر نهٔ صرف پخپله ډیر سخي، مخیر، فیاض او د محتاجانو خواخوږے وهٔ بلکې د هغهٔ د مثال د نظر د وړاندې او د هغهٔ د تربیت او ترغیب له قبله اکثرو خلقو به د شریعت د احکامو په موجب له خپلو مالونو مستحقانو ته د هغوي برخې رسولے. خانانو به چې څومره د نادارو او عاجزانو دپاره وظیفې مقررولے هومره به ئې سلطان نمانځنه کوله او ورته به ئې ونیل چې د خیر بنا موایښے ده تاوان به نهٔ وینئ. هم څرګ ګته ده. د سلطان د حکم مطابق به هر کال د ولایت د محتاجانو د نامو فهرست دوه ځله تیاریدو او سلطان ته به استولے شو او د هر یوهٔ محتاج دپاره به هر ځل د شپږو میاشتو خرڅ او د ژمي دپاره جامې لو شال لیږلے کیدے شو. هره جمعه به په محتاجانو نغدي روپۍ ویشلے کیدے شوے او هره ورځ به د پخکرې او ناپخکرې طعام ویش کیدو. فرشته په خپل تاریخ کښې د سلطان سکندر لودي د عهد د احوالو عنوان "ذکر بادشاهي سلطان عادل و بازل الخ" په حقه قائم کړے دے. بیشکه سلطان سکندر لودي یو منصف، انصاف پسند سخي او سخاوت دوست انسان او حکمران وهٔ. او د ښو او وچتو اخلاقو د دغو دریو واړو خویونو تعمیم د مملکت د امورو تر سره رسولو په فرائضو یو داسې ښهٔ او صحت مند اثر اچولے وهٔ چې نتیجه ئې د ملک او رعایا خوشحالي، ارام او اطمینان وهٔ.

(۸) پرته له نورو ډیرو برکتونو د سلطان سکندر لودي عهد د هندوستان د علمي ترقۍ او ذهني او دماغي روڼایۍ دور وهٔ. هر کله چې سلطان پخپله شاعر او عالم وهٔ د علم، ادب او فن پالونکے او د عالمانو او پوهانو قدر کونکے او نمانځونکے وهٔ نو په خلقو کښې عام طور سره د علم حاصلولو شوق پیدا شوے وهٔ. کهٔ مسلمان وهٔ کهٔ هندو کهٔ د چا خان او امیر زوے وهٔ او کهٔ د خوار غریب په سر کښې ئې د علم حاصلولو سودا وه. د فرشته د وینا مطابق هندوانو وړومبے ځل د دې بادشاه په عهد کښې د فارسي علومو اکتساب او فارسي ژبه کښې لیک لوست شروع کړل. د سلطان سکندر نه وړومبے د هندوستان د مسلمانانو بادشاهانو په عهد کښې د عقلي علومو درس ډیر محدود او رواج ئې ډیر لږ وهٔ. د دې بادشاه په عهد کښې شیخ عبدالله تلنبي او شیخ عزیز الله تلنبي (یعنې د تلنبه وسیدونکے د ملتان شمال مشرق) چې سنبهل کښې به ئې درس ورکاوهٔ. د دغو علومو تعلیم او تدریس له ډیره ترقي او رواج ورکړو د شیخ عبدالله تلنبي درس د خپلې زمانې څلویښت مشهور عالمان پیدا کړي وو چې میاں لاړن، جمال خان دهلوي، میاں شیخ ګوالیاري، او میران سید جلال بدایوني پکښې هم شمیرلے کیږي. د منتخب التواریخ مؤلف عبدالقادر بدایوني وائي چې "سلطان سکندر ډیر علم دوست بادشاه وهٔ... وائي چې سلطان سکندر به هم د شیخ عبدالله تلنبي په درس کښې

حاضریدو او پښتې نیولې به له ادبه په یوۀ ګُټ کښې کښیناست چې د طالبانو په توجه او په درس کښې خلل نۀ پرې ووځي. د درس ختمیدو نه پس به ئې سلام واچولو او د شیخ په صحبت کښې به ناست وۀ." دې نه اګاهو هم دغه مؤرخ وائي چې "د سلطان سکندر په عهد کښې یو نامتو بامبر شاعر هم وۀ چې سره له خپله کفره ئې د مروجه علومو درس ورکاوۀ." د یادو شوؤ دوؤ عالمانو شیخ عبدالله او شیخ عزیز الله نه علاوه د سکندري عهد نور مشهور عالمان او درویشان مولانا سماء الدین کنبوي دهلوي، او شیخ جلال الدین جمالي کنبو وو چې وړومبي ئې هم تاسو ذکر لوستې دې. وړومبې صاحب د دویم صاحب مرشد او استاد وۀ. د مولانا جمالي مشهور علمي آثار د شیخ فخر الدین عراقي په لمعات حواشي، مفتاح الاسرار، سیر العارفین یعنې د اولیائې هند تذکره (چې د حضرت معین الدین چشتي اجمیري رحمة الله علیه په مبارک ذکر شروع او د مؤلف د مرشد حضرت شیخ سماء الدین صاحب رحمة الله علیه په مبارک ذکر ختمه شوې ده). د فارسي اشعارو دیوان چې د عبدالقادر بدایوني د وینا مطابق ئې د اشعارو ګنه اتۀ اتۀ زره وه او مثنوي مهر و ماه دي. د دوي تخلص وړومبې جلالي وۀ خو بیا ئې د خپل مرشد او استاد په وینا جمالي تخلص اختیار کړو. شیخ جمالي چې د خپل سفر په دوران کښې (چې تاسو ئې کتاب کښې ذکر ولوستو) د وخت کومو عالمانو او فاضلانو سره ملاقاتونه کړي وو په هغو کښې مولانا جامي، ملا حسین واعظ او مولانا جلال الدین محمد دواني شامل دي. مثنوي مهر و ماه هم د دې سفر په دوران کښې لیکلې شوې وه. (د شیخ محمد اکرم د "ارمغان پاک" مقدمه) د مولانا جامي چې د خپل وخت یو لوې صوفي شاعر او عالم وۀ په صحبت کښې ئې ډېره موده تیره کړې او ترې ئې په شعر کښې اصلاح هم اخستې وه. د منتخب التواریخ مؤلف عبدالقادر بدایوني چې د دې عهد کوم دوه نور لوې عالمان یادوي شیخ الهدایه جونپوري او د هغۀ زوې بهکاري دي. بدایوني وائي چې شیخ الهدایه د فقې په مشهور کتاب هدایه په څو جلدو کښې شرحه لیکلې وه. او د کافیې کومه شرحه ئې چې لیکلې وه ژبه ئې د ستائنې حق نۀ شي په ځائې راوړلې. شیخ الهدایه په مدارک وغیره باندې هم حواشي لیکلي وو او لکه چې عبدالقادر بدایوني وائي د هغۀ تر وخته په نصاب کښې داخل وو. میان بهووه د خواص خان زوې چې د سلطان سکندر وزیر وۀ هم ډیر لوې عالم او پوه سړې وۀ. دۀ په ۹۱۸ هجري کښې یعنې د سلطان له وفاته پینځۀ کاله وړومبې طب سکندري نومې کتاب چې په معدن الشفاء سکندر نوم هم مشهور دې ولیکلو او پکښې ئې د قدیم هندي طب د کتابونو خصوصاً چریکا، شوشروتا، سارنګدهارا او چکروت ذکر هم کړې دې دا کتاب ګوندې د مهاویدک نومې کتاب ترجمه

وي چې په دغو يادو شوؤ څلورو خصوصاً او نورو کتابونو هم مبني دے. بې ځايه به نه بلکې هيله ده چې د بناغلو لوستونکو د دلچسپۍ باعث به وي. کهٔ د دې مد د ختمولو نه وړومبے د سلطان د عهد د دوؤ شاعرانو چې مو ياد کړهٔ د کلام نمونې سره د سلطان د کلامه لوستونکو ته وړاندې کړو. د گلرخ يعنې د سلطان د کلام يوه نمونه خو تاسو د منظومې رقعې په شکل چې ئې شيخ جمالي ته استولے وه ولوستله. د غزل يو څو اشعار ئې وخيرئ:

گلرخ

سروے کہ سمن پیرہن و گلبدنستش — روحے است مجسم کہ در آن پیرہنستش
مشک ختنے چیست کہ صد مملکت چین — در حلقۂ آن زلف شکن در شکنستش
در سوزان مژگان بکشم رشتۂ جان را — تا چاک بد وزم کہ در آن پیرہنستش
گلرخ چہ کند جوہر دندان در اوصف — ہمچون سیراب سخن دہنستش

جمالي

موسیٰ زہوش رفت بہ یک جلوۂ صفات — تو عین ذات می نگری تبسمی
مرد را کردار عالی قدر گرداند نہ نام — ہر کسے گو را علی نام است نہ چون حیدر است
جانان مپرس بے تو شبے ما چسان گذشت — باروز بد چنین برسید و چنان گذشت
تو در درون و من از شوق سینہ پارہ کنم — کہ دل شگافم و بر روئے تو نظارہ کنم
تو گر جفا کنی از ما بجز وفا نآید — کہ رسم ناز چنان باشد و نیاز چنین
عشق را طئ لسانے است کہ صد سالہ سخن — دوست با دوست بہ یک چشم زدن میگوید
طال شوقی الی منازلکم — ایہا الغائبون عن نظری
و شب مونسم خیال شماست — فاسئلو عن خیالکم خبری
ما را ز خاک کویت پیراہنے است بر تن — وآن ہم ز آب دیدہ صد چاک تا بہ دامن ☆
مرا از تیر ہائے او پر از پر گشت ہر پہلو — کنون پرواز خواہم کر سوئے آن کمان آبرو ☆☆

☆ د مرقع افغان مؤلف د طبقات اکبري په حواله دا شعر سلطان ته منسوب کړے دے. خو فرشته او بدايوني ئې د جمالي له شعرونو يادوي.

☆☆ فرشته جمالي ته خو ډورن (تعليقات ص ۹۹) سلطان ته منسوب کړے دے.

او دا د هغه بامبر شاعر شعر دے چې د مروجه علومو درس به ئې ورکاوهٔ:

دل خون نہ شدے چشم تو خنجر نہ شدے گر — رہ گم نہ شدے زلف تو ابتر نہ شدے گر

(۹) د رفاه عامه د نورو کارونو نه علاوه د سلطان سکندر لودي عهد د ښاري ودانۍ دېاره هم يادگار دے. سنبهل او اگره د خپل شان و شوکت دېاره خاص طور سره د سلطان منت بار

وو. سنبهل د سلطان په وخت کښې دومره ترقي کړې وه چې د دهلي برابر ئې اهميت درلودې وۀ. خو د پښتنو د حکومت د زوال نه پس ئې اهميت کميدل شروع شول.او اخر ئې هغه زوړ شان او شوکت ختم شو. اګره لکه چې وړومبې هم ووئيل شول د سلطان له عهده وړومبې يو معمولي کلې او د بيانې له توابعو وۀ. سلطان دا له نوې سره بنا، په قسماقسم عمارتونو اراسته او پايهٔ تخت ئې کړه. د سلطان په حکم ډير جماتونه، لارې، سرائ ګانې او بازارونه جوړ شوي وو او له ديو علاوه په دهلي کښې ئې د خپل پلار سلطان بهلول ډيره ښکلې مقبره او په اګره کښې ئې يوه ډيره ښائسته باره دري هم جوړه کړې وه. (دي لودي سلتانز ص ۱۲۷، ۱۲۸)

ډاکټر عبدالحليم وائي چې په حيثيت د مقنن، د دارالضرب او زرعي بندوبست او مالي قوانينو په اصلاحاتو کښې سلطان سکندر لودي د شير شاه سوري او اکبر مغل پيشرو وۀ. هغه د عادل د خطاب چې د.مينځني دورې مؤرخينو ورله ورکړے وۀ په ښهٔ شان مستحق وۀ. (ايضاً ص ۱۳۰)

د مغلوالې د زمانې ټول تاريخونه ــ د سلطان سکندر او د هغهٔ د کهالهٔ په حقله تقريباً ټول تاريخونه هم په دغه دور کښې ليکلي شوي دي. د سلطان سکندر لودي د داسې شان مذهبي تعصب او شدت خاص طور سره ذکر کوي چې د نورو مذاهبو په منونکو د ډير زور زياتي رنګ لرونکے او پرته د هغوي په مذهبي وظائفو کښې د مداخلت مترادف دي. نو له دې قبله د نوې دورې اکثر مؤرخان چې غير مسلم او مسلم دواړه پکښې شامل دي په سلطان اعتراض لري. اګر کهٔ دا نامکنه ده چې د سلطان د مذهبي پاليسي په باره کښې کومې خبرې ليکلې شوې دي غلطې او دروغ دي خو د رد کولو دپاره ئې صرف دا وينا هم کافي نهٔ شي کيدے چې دغه مواد د مخالفو مغلو د حکمت عملي او سياسي مقاصدو د حصول دپاره پيدا کړے شوے وو. چې سلطان سکندر يو لوے پښتون فرمانروا او د مغلوالې د باني بابر د مخالف حريف سلطان ابراهيم لودي پلار د هندوستاني رعايا د اکثريت هندوانو په نظر کښې په حيثيت د يو جابر، ظالم او مذهبي مجنون حکمران ښکاره شي. کهٔ نن په شلمه پيړۍ کښې د داسې خلقو کمے نشته چې ورسره د ديني او مذهبي اختلاف لرونکو عالمو د عقائدو توهين وکړي، جذبات ئې مجروح کړي او د وس موندلو په صورت کښې ورسره جابرانه او ظالمانه بلکې وحشيانه سلوک روا او د ستائنې وړ ګڼي نو د بحث لاندې زمانه کښې به ئې څهٔ کمے وۀ. خو لکه د دې نوټ په ابتدا کښې چې مونږ وئيلي وو دا اغلبه ده چې د بحث لاندې واقعات او خبرې چې سلطان ته منسوبې شوي دي په هغو کښې ارادةً د مخالفو د سياسي

مقاصدو د حصول دپاره يا د دين او مذهب د غلط تصور او د هغې د خوش اعتقادئ له قبله چې له دغه تصوره پيدا کيږي پکښې اغراق او رنګ آميزي شوې وي. اګر کۀ لکه چې مونږ ومنله د هغو تاريخونو چې د سلطان په باره کښې زمونږ د معلوماتو ماخذونه دي په مغلوالي کښې ليکل کيدل د بحث د لاندې د خبرو د رد کولو دپاره قطعي دليل نۀ شي کيدې خو له دغه حقيقته بالکل سترګې پټول به هم د تحقيق او تفتيش له اصولو سم نۀ وي. د سلطان او د هغۀ د کورنئ په باره کښې ليکلي شوي تاريخونه د اکبر او جهانګير عهدونو سره تعلق لري. اکبر د مغل شهنشاهيت د استحکام دپاره دا ضروري ګڼلې وه چې هندوان نۀ صرف ځان سره ملګري کړي بلکې ځان او تر څو چې تري کيږي خپل اميران او وزيران ټول د هغوي په رنګ کښې رنګ او د هندو او مسلمان بيلتون د مينځه ورک کړي. د اکبر يوه ښځه د جهانګير مور هندوه وه. د جهانګير دوه ښځې هندوې وې. زوې او جانشين ئې شاهجهان هم له هندوې وۀ غرض چې په هر رنګ چې کيدۀ اکبر د هندوانو د خوشحالولو زيار کاږلو او د هغۀ دې پاليسي د جهانګير په عهد کښې مسلمانان داسې حال، بدې ورځې ته راورسول چې حضرت مجدد الف ثاني شيخ احمد سرهندي رحمة الله عليه د دغه روش برخلاف احتجاج او تبليغ ئې ضروري وګڼلو. او جهانګير هغوي ګرفتار او بندي کړل. نو د حکومت د دغه پاليسي دا تقاضا هم کيدې شوه چې د مغلو نه وړومبې کوم خاندان د اقتدار او حکومت خښتن وۀ هغه او خصوصاً د ټولو نه لوې فرمانروا چې د ډيرو لوړو انساني اقدارو لرلو په وجه د ډير احترام وړ وۀ د نفرت او غندنې وړ وګرځوي. او کۀ په دغو حالاتو کښې يو نيم تاريخ لکه د ملا محمد قاسم فرشته د مغلو له حدودو بهر هم ليکلې شوې وۀ نو ئې له هغو نورو کتابونو چې ترې وړومبې په دغه عملدارئ کښې ليکلي شوي وو يا له هغې پروپيګنډې چې مغلو شروع کړې وه متاثر کيدل له قياسه لرې نه بلکې ورته نزدې دي. بلکې د مغلو د پروپيګنډچيانو دپاره په مقابله د دې چې په خپلو دستاويزاتو کښې ئې سلطان سکندر ته دغه خبرې منسوبې کړې وې دا طريقه زياته مؤثره وه چې په خلقو عوامو کښې په دغه باب خيال انګيزئ کړې او لرې نزدې رسولې وې او نتيجةً ترې د وخت ليکوالو اخذ کړې دې. دلته په ځائې دا سوال کيدې شي چې شير شاه سوري خو هم پښتون باچا وۀ او کۀ له سلطان سکندره زيات نه نو په هيڅ حال کښې ترې کم عظمت لرونکې نۀ وۀ. بلکې کۀ د حکومت هغه هومره زمانه ئې نصيب شوې وې لکه د سلطان سکندر نو بيشکه له هغۀ به ئې ډير زيات عظيم کارونه کړې وې نو مغلو هغه په هغو خبرو ولې نۀ بدنامولو چې د سلطان سکندر په باب ئې خورولې. نو په ځواب کښې هم په ځائې وئيلې شو چې د مغلو د باقاعده تاريخ نويسئ کار د اکبر له

زمانې شروع شوې وه او د هغه زمانه د شير شاه زمانې ته دومره نژدې وه چې کوندې د هغه برخلاف د دروغو پروپيګنډې کاميابېدل اغلب نه شو ګڼل کېدے.

د شاهجهان د تخت نشيني تر وخته له اسلامي نقطهٔ نظره په هندوستان کښې حالات ډېر خراب شوي وو او دې ديندارہ باچا د هغو برخلاف رد عمل وکړو خو نرم او تدريجي مدافعت ئې ضروري وګڼلو او نتيجه ئې دا وه چې هندوانو د خپلو مقاصدو تر لاسه راوستلو دپاره چې کومه آزادي بيامونډلې او پکارولې وه د هغې تدارک ئې سم ونهٔ کړے شو او اورنګ زيب په فوري رد عمل کولو او سختې پاليسۍ اختيارولو مجبور شو د لودي کورنۍ د حکومت د قيام نه وړومبے د تيمور د هندوستان نه بيرته تلو نه پس چې پکښې کومه غلبله او افراتفري پيدا شوې وه په هغې کښې هندوانو د سر وچتولو دپاره لاس پښې وهل شروع کړي وو. او د سادات کورنۍ باچهان ئې د مدافعت اهل نه وو ثابت شوي. د لودي خاندان د هندوستان په حکومت قبضې کولو سره اګر کهٔ تر يوهٔ وخته د هندوانو عزائم وخيبښل شول خو د خپل مقصد د حاصلولو خواهشات ئې نهٔ وو مړهٔ. د سلطان سکندر د تخت نشيني په وخت لکه چې د هغهٔ د مهماتو له تاريخه ښکاري د هندوانو ډېر مضبوط مرکزونه قائم وو او تري هر وخت مسلمانانو ته خطره پيښيدے شوه. علاوه له دې داسې قرائن هم شته چې ترې دا نتيجه اخذ کولے شو چې د هندوانو په مذهبي مشرانو کښې يوه داسې ډله هم موجوده وه چې هغوي په مسلمانانو کښې د مذهب په حقله ذهني انتشار او اينارکي پيدا کول د هغوي د خرابولو يوه مؤثره حربه ګڼله او پکاروله ئې او غالباً چې بودهن هم د دغه ډلې يو غړے وهٔ. د سلطان سکندر په مملکت کښې په لکهونو نه په کروړونو هندوان اوسيدل او هندوان څکه وو چې ويدک دهرم هندوانه دين ئې حق ګڼلو نو په دې وجه سلطان سکندر هيڅوک هم قتل يا قيد نهٔ کړو نو آخر بودهن ئې ولې وژلو. هغه هندوان خو په امن امان وو چې چا چرې دا نهٔ وو وئيلي چې اسلام هم دين حق دے نو اخر هغه ولې قيديدو او قتليدو چې ئې وئيل چې اسلام هم دين حق دے او هندو دهرم هم؟ يو خوا خو موني ته بودهن سره د سلطان سلوک ورانده دے او بل خوا ګورو چې هم د دغه سلطان په وخت کښې يوهٔ بامبڼ د مروجو علومو درس ورکولو. له بودهنه کومه خطره راپيښه شوې وه چې بند او مرګ ئې ضروري وګڼل شول. بايد چې دا قياس وکړو چې دغه.سړي باقاعده او په منظمه طريقه يا خو خفيه او يا علانيه د دغه قسم عقائدو تبليغ او اشاعت کولو چې ترې نه په مسلمانانو کښې د ديني او مذهبي انتشار پيدا کيدو احتمال وهٔ. کهٔ دا سړے اباحتي يا فري تهنکر وهٔ او في الواقع ئې دغه عقيده وه چې ټول مذاهب حق او کهٔ په مينځ کښې هندو او ښکاره هندو او مسلمان

دواړه وهٔ. (لکه چې نن سبا هم ځنې خلق د خپلې ډلې په مجلسونو کښې يو څهٔ او د عوامو نور څهٔ وي) په هر صورت کښې ئې کردار د خطرې نه خالي نهٔ وهٔ. دا بيله خبره ده چې کومه سزا ورله ورکړې شوې وه دا د ضرورت سره سمه او کهٔ ترې متجاوزه وه خو د دې سوال د خواب دپاره به هم وړومبے د حالاتو د مکمل او صحيح صورت او نوعيت د علم ضرورت وي. اسلام خپل منونکي په چا باندې په ديني او مذهبي معاملاتو کښې د زور زياتي او د مختلفو عقائدوٗ لرونکو د جذباتو مجروح کولو نه په واضحو الفاظو کښې منع کړې دې خو دا اجازت ورله هم نهٔ ورکوي چې د عقائدو په معامله کښې مخالفينو سره د څهٔ قسم روغه او راضي نامه وکړي کهٔ يو طرف ته دا ارشاد دے چې "لا اکراه في الدين" نو بل طرف ته ورسره دا هم چې "لکم دينکم ولي الدين" او د دغې قسمه راضي نامې د انکار باوجود ئې د هر انسان په حيثيت د انسان او ذي روح احترام داسې قائم ساتلے دے چې حضرت سرور کائنات عليه افضل التحيات والصلوٰة د يهودي د جنازې د درناوېنت دپاره هم ودريږي چې ورته عرض وکړے شي چې د کافر د يهودي جنازه ده نو فرمائي چې خبر يم. يهودي هم په حيثيت د يو ذي روح د انسان د احترام وړ دے. رواداري او د نورو د عقائدو او خيالاتو د برداشت سره په خپلو عقائدو او خيالاتو کښې استقامت او مضبوطيا د مسلمان خصوصيت دے. او سره د عقائدو د اختلاف نورو سره نهٔ صرف انصاف بلکې مينه محبت، ښهٔ سلوک او ګزران د ستائنې وړ کردار دے. د رواداری په حقله امتحان خو هم د هغهٔ سړي وي چې نورو سره د عقائدو او خيالاتو بيلتون لري. د هغهٔ رواداري څهٔ رواداري ده چې دغه هم رښتيا او هغه هم رښتيا، هغه پخپله هم په حقه او بل هم په حقه، نهٔ ئې څهٔ نظريه نهٔ ئې دين نهٔ ئې ايمان او تبليغ د صلح کل کوي. نو هغو حالاتو کښې لکه چې سلطان سکندر لودي ته ور دوخار وو کهٔ هغهٔ د هندوانو په باب سخته پاليسي اختيار کړې وه نو دا به د وختي تقاضو نه چې د مستقلې عقيدې نتيجه وه. د اورنګ زيب هم دغه شان کارونه بلکې د هندوانو برخلاف ډېر سخت احکام او اقدامات د هغهٔ د زمانې په سرکاري تاريخونو کښې ډېر په اهتمام درج دي او کهٔ د اورنګ زيب د احکامو او اقداماتو دپاره د جواز وجوهات او په هغهٔ د مذهبي تنګ نظری د الزام د رد دپاره دلائل پيدا کيدے شي نو د سلطان سکندر د هغو کارونو دپاره چې په مذهبي تنګ نظری محمول کيدے شي (اګر کهٔ دغه کارونه د سلطان د زمانې له سرکاري اسنادو نه نهٔ دي ثابت) يعنې د سلطان د بحث لاندې روېې دپاره هم.

۸. "پس له سلطنته د لوديو" دغه عبارت فارسي نسخو کښې داسې دے: "بعداز انقراض دولت لوديان که سه پشت هفتاد وهفت سال پادشاهیٔ دهلی کردند چون زمام اختيار درسنه ۹۴۶ ہجری ستہ واربعين وتسعمایه به قبضهٔ اقتدار سوران

درآمد اسلام شاه سور بن شیر شاه سور عمارت مقبرهٔ این هر دو بادشاه عالی دستگاه را در باغ جود بنا ساخت والحال نزول ارباب سرور و اہل عرفان است۔ نقلست کہ روزے قطب الاعظم شیخ سماء الدین کنبو بہ زیارت قطب الدین بختیار کا کی رفتہ بودند۔ محل مراجعت عبور ایشان بہ مقبرۂ این دو بادشاہ معدلت دستگاہ افتاد۔ شیخ بہ مقبرۂ ایشان درآمدند و بعداز فاتحہ ساعتے سر در مراقبہ فرو بردند و بعداز لحظہ مبتہج و مسرور سر بر آوردند و فرمودند الحمد و المنۃ چنانچہ این پدر و پسر در دار دنیا کامران و کامگار بودند در آن سرا نیز بہ عشرت و خرمی و بہجت و مسرت اشتغال دارند۔'' (ن ز ص ۱/۸۵ و ن ح جلد ۱ ص ۲۲۸، ۲۲۹) یعنې پس د لودیانو د حکومت له خاتمې چې درې پېړۍ اووړ اویا کاله وړ چې حکومت په ۹۴۶ هجرې سوریانو واخست نو اسلام شاه سور د شیر شاه سور زوې د دغو واړو لوړشانو بادشاهانو مقبره په باغ جود کښې سازه کړه نیک بختان او عارفان ورله ځي. وائي چې یوه ورځ قطب الاعظم شیخ سماء الدین کنبو (رحمة الله علیه) د (حضرت) قطب الدین بختیار کاکي (رحمة الله علیه د روضې) زیارت لره تلي وو په واپسۍ کښې د دغو عادلانو بادشاهانو مقبرې لره هم راغلل او پس د یوه ساعت له مراقبې ئې سر پورته کړو او په خوشحالۍ ئې وفرمائیل چې ثنا او شکر دے خدائے تعالیٰ لره چې څنګه رنګ دغه پلار او زوے په دنیا کښې کامیاب وو په هغه خائے کښې هم خوشحال دي." قوسین له ما دي.

ص ۸۰

۱، ۱ الف. قوسین د فارسي نسخو په بنا ما زیات کړل.

۲. په فارسي نسخو کښې ورومبي دوه شعرونه نشته. بیا د خان جهان لودي د راتګ او د امراګانو د سختې وینا کولو ذکر د دې عبارت ''امانہ دانستند کہ امور بادشاہی ہرگز بہ شرکت صلاح پذیر نہ شود و دو شمشیر۔۔۔۔بیت دو جہان ہرگز الخ'' نه پس دے.

۳. مملکت.

۴. مط ن ز ص ۲/۸۶ و ن ح جلد ۱ ص ۲۳۳ "شیخ زاده سلطان محمد پسر شیخ سعید فرملي". پښتو نسخې "شیخ زاده محمد او میر شیخ سعید فرملي."

ص ۱۷ الف

پښتو قلمي نسخې "او بر حال ئې تقریر د خپل جائکرداري له دې جانبه الخ" تصرف له ما دے فارسي نسخو کښې ئې هم معنیٰ الفاظ نشته.

۲. فارسي نسخې ن ز ص ۱/۸۷ و ن ح جلد ۱ ص ۲۳۳ ''و اکثرے را از ان امرا کہ سی و چہل ہزار سوار نوکر داشتند مثل دریا خان نوحانی'' الخ. یعنې او اکثرو امراګانو (امیرانو) ته چې دیرش څلویښت زره سوارهٔ نوکران ئې لرل لکه دریا خان نوحاني. الخ.

ص ۴۲

۱. د قوسین تر مینځه عبارت له ما د دې فارسي عبارت ترجمه ده "وجزوے از مال وملک پدر که بطریق ارث به من تفویض فرموده بود دران هم طمع نمود و پیوند مرافقت به تیغ بدعهدی قطع کرده صلهٔ رحم را از میان برداشت." (ن ز ص ۸۸/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۳۶)

۲. دلته هم پښتو ترجمه مغلقه او فارسي عبارت واضح دے. فارسي عبارت داسې دے. "...و دردل او تاثیر کرد و مع هذا تاب مقاومت شهزاده درخود نیافته" الخ. (ن ز ص ۸۸/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۳۶) یعنې د هغهٔ په زړهٔ ئې اثر وکړو. او سره د دې خان ورته (هم) د شهزاده د مقابلې ښکاره نهٔ شو. یا د هغهٔ په زړهٔ ئې اثر وکړو او دې دپاره ئې خان کښې د شهزاده د مقابلې توان ونهٔ لید. د ډورن ترجمه (حصه ۱ ص ۴۲) دویم شکل ته نزدې ده. د "مع هذا" لفظي ترجمه به "سره د دې وي" خو مراد ترې غالباً دې دپاره یا له دې قبله دے. د فرشته د الفاظو نه دا هم بریښي چې د مقابلې نه خان ژغورل د خپلې کمزورۍ د احساس له قبله نه بلکې سلطان ابراهیم سره د طبعي خرتیا او د شهزاده جلال خان په حال د زړهٔ سوي په وجه وو. وائي: "بادشاه ابراهیم سوءمزاجی داشت ضعیف نالی وشکستگی وملائمت شهزاده درواثر کرد دست از قلعه کالنجر بازداشت." (جلد ۱ ص ۱۸۹)

ص ۴۳

ن ز ص ۸۸/۲ ن ح جلد ۱ ص ۲۳۷ "بد صوب مشرق نهضت فرمود." نمرخانهٔ لورې ته ئې کوچ وکړ. جونپور د سلطان په لار کښې هم نمرخانهٔ ته وهٔ.

۲. پښتو نسخې "خر تولے" فارسي نسخې "جرتولي" (ن ز ص ۸۹/۱ ن ح جلد ۱ ص ۲۳۸) په برغدو قوسینو کښې چې د دې خبرې علامت دے چې د ن ح د فاضل محشي له طرفه اضافه ده. ((جرولي)). جرولي د اګرې د ضلعې فیروز آباد تحصیل کښې لوے کلے دے. (ن ز ص ۸۹/۱ حاشیه ۲ په حواله د یو پي ګزټیر اګره جلد ۸ ص ۵۱) غالباً چې دلته جرولي نه بلکې جرتولي یا چرتولي ده. فرشته جلد ۱ ص ۱۸۹ "جے چند زمیندار چرتولي من توابع پرګنه کول" الخ. دغه عبارت په متعلقه حاشیه کښې د ن ح فاضل محشي هم په حواله د فرشته د هغهٔ په مخکښې د ایډیشن جلد اول ص ۳۴۹ نقل کړے دے. او ډاکټر عبدالحلیم د یو پي ډسټرکټ ګزټیر په حواله لیکي چې جترولي د علي ګړھ په تهل پرګنه کښې ده. او غالباً چې جترولي د جرتولي بدل صورت دے. (دې لودي سلټانز ص ۱۳۹ حاشیه ۳) ښاغلي لوستونکي به یاد آوري وکړي چې کول هم د علي ګړھ زوړ نوم دے.

۳. مط ن ز ص ۸۹/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۳۹.

ص ۷۴

فارسي نسخو كښې دا شعر نشته.

۲. پښتو نسخې "خلل او زلل". فارسي عبارت داسې دے "كه در ايام تخلل جلال خان متزلزل شده بود." (ن ز ص ۹۰/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۴۱).

۳. قوسين مط ن ز ص ۹۰/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۴۲.

۴. د خوشحال بابا شعر دے.

ص ۷۵

فارسي نسخو كښې دا لفظ بلكې "او كفره فجره....شي" جمله نشته.

۲. فارسي "سيصد و پنجاه" ۳۵۰. فرشته "سيصد" ۳۰۰. "سيصد" سي صد نه سه صد دے.

۳. فارسي نسخې دا شعر نۀ لري.

۴. پښتو نسخې "اول كر" او "اول گرهـ". ن ز ص ۹۱/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۴۵ "بادلگره" يعني "بادل گرهـ".

۵. ن ا "كسنكه" ن ب "كښنبگه". گرهـ كتنكه د گونډوانه ملک نوم دے چې قطب لورې بهټه سهيل لورې د كن. خاتيز لورې رتنپور جهاړكنډ او خاتيز لورې رائے سين سره لگيدلے دے. (ن ح جلد ۱ ص ۳۴۶ حاشيه ۱ په حواله د بيورج د اكبر نامې) او "كره" يا گرهـ د جبل پور بنار لويديز ته خلور ميله يو كلے دے. او كتنكه يا كتنگي له گرهـ ديرش ميله دے. (ايضاً په حواله د سي پي جبلپور ډستركټ گزټيير) گونډوانه د الفنسټن د نقشې له رويه د بهوپال او رائسين نه سهيل خاتيز ته د نربدا سهيلي غاړې ته د ريوه (بهټه) او پنه د علاقو او د رتنپور نه (چې د ريوا سهيل ته دے) سهيل لويديز ته خوره ده او د دكن نه قطب ته. گرهـ ئې قطبي بريد د نربدا په قطبي غاړه د جبلپور په خوا كښې ترې سهيل لويديز لورې ته دے.

ص ۷۶ الف

پښتو ترجمه "گډمانكپور" كړه او مانكپور د اله آباد شمال مغرب ته يو بل ته نزدې پراتۀ دي. كړه د گنگا سيند په ښي غاړه پرته ده او مخامخ ورته قطب ته د سيند په كينه غاړه څۀ لږ لرې مانكپور پروت دے. دا دواړه ځايونه اكثر په يوه نامه ياد شوي دي.

ص ۸۱

دواړه فارسي نسخې "لودي" لري.

۲. پښتو "پکهاري خان فرملي". ن ز "بهکياري خان فرملي" ن ح "بهکهاري خان فرملي".

۳. مط ن ز و ن ح. پښتو "بلواني". لکه د ن ح ص ۲۴۷ حاشيه ۱ کښې ليکلي دي دا کلمه په اختلاف "بلوني"، "بلوقي" او "تلوني" وغيره راغلې ده.

۴. پښتو "پکهن خان لوحاني".

۵. فارسي نسخې "بانکرمئو". بانگرمؤ قريب قنوج. بانگر مؤ د لکهنو صوبه اودهـ په سرکار کښې واقع دے. د بانگر مؤ قصبه د ضلع اناؤ په صفي پور تحصيل کښې د لکهنو نه درې خلويښت ميله لويديز ته او د کلياني په خوا کښې د گنگا لويديز لورې ته څلور ميله ده چې سيد علاء الدين په ۱۳۰۰ ء کښې آباده کړې وه. (ن ح جلد ۱ ص ۲۴۸ حاشيه ۱) او "دي لودي سلتانز ص ۱۴۹ حاشيه ۴ هم وگورئ" تحصيل صفي پور، ضلع اناؤ يو بې کښې کلياني سيند ته او اناؤ هردولي سړک ته نزدې قصبه.

۶ پښتو عبارت داسې "له پښتوني خلق پاڅيدهٔ ډير خلق مړ او بادشاه ئې مجروح شۀ." ما د فارسي عبارت ن ز ص ۲/۹۲ او ن ح جلد ۱ ص ۲۴۸، ۲۴۹ په بنا تصرف وکړ. لکه چې په مخ سلطان ته د خبر رسيدو ذکر دے ترې ښکاري چې سلطان دغه ځائې نۀ وۀ. د ډورن (جلد ۱ ص ۷۵) ترجمه هم د فارسي عبارت سره سمه ده.

ص ۸۲

ن ب "په هندوستان واقع الخ".

مط ن ب. ن ا "او امرنو پيرانو الخ" غالباً چې "اومرنو پيرانو" دے. او د وړومبنو يا لمړنو يا پخوانو پيرانو. پخوانو مشرانو، زړو خلقو مترادف دے.

۳. ن ب "زوے د پلار الخ".

۴. د دې جنگ حال لکه چې په پښتو ترجمه کښې راغلے دے له لفظي اعتباره په مقابله د فارسي نسخو د ډورن انگريزي ترجمې (حصه ۱ ص ۷۲) سره سمون خوري. گوندې د دواړو مترجمانو په مخکښې يو شان نسخه وه خو د دغه جملې "په تمام جنگ او جلادت مقيم شول" سره برابر الفاظ نۀ خو په فارسي نسخو او نۀ د ډورن انگريزي ترجمه کښې شته. په هر حال جمله به داسې بهتره وه "په جنگ په تمام جلادت مستقيم شول."

۵. مط ن ب. ن ا ".... او د کفران نعمت يمن بده لري" د "يمن" دغه شان استعمال ظاهره ده چې بې ځايه او غير موزون دے. فارسي عبارت داسې دے:

ن ز ص ۲/۹۳ "آخرالامر چون شيوۀ حرام نمکی و بغی وطغيان مذموم وشوم بوده وکفران نعمتی محزون ومغموم ويمن نداشته وندارد الخ"

اخر کار هر کله چې د نمک حرامی، بغاوت او فساد يون غندلے او سپيرۀ دے او کفران

نعمت زيار لړلے غم زپلے دے نۀ ئې برکت (يمن) لرلے دے او نۀ ئې لرې الخ.

ن ح جـلـد ۱ ص. ۲۵۰ ''آخرالامر چون شیوۂ حرام نمکی وبغی وطغیان کہ مذموم ترین افعال است لباس خود ساختہ بودند و کفران نعمتی وحق ناشناسی بہ آن منتزاد گردانیدہ محزون ومغموم وبے یمن بودند۔'' يعنې آخر كار هر كله چې د نمك حرامي، بغاوت او فساد ئې چې له عملونو زښت ډير غندلے عمل دے خپله جامه كړے وۀ او كفران نعمت او حق نۀ پېژندنه ئې پرې لا ډپاسه وه زيار لړلے غم زپلے او بې بركته وو.

په حاشيه ۴ كښې چې د ن ح فاضل محشي د رامپور سټيټ (رضا) لائبريرى د نسخې په حواله كوم عبارت نقل كړے دے هغه هم دغه شان دے لكه د ن ز عبارت.

۶ پښتو نسخې "لودي". ن ز ص ۲/۹۳ "نوحاني". ن ح جلد ۱ ص ۲۵۱ "نوحاني". ډورن حصه ۱ ص ۷۶ "لوهاني" يا "لوحاني".

۷. دلته او وروستې پښتو نسخو كښې هم "لوخاني". نوحاني، لوهاني يا لوحاني هم د يوۀ قبيلوې نوم مختلف شكلونه دي.

۸. ن ا و ن ب "مظفر اثر".

۹. ډورن حصه ۱ ص ۷۶ "خان خانان لودي".

ن ز ص ۱/۹۴ ن ح جلد ۱ ص ۲۵۲ "شيخ زاده هائے اوباش چنديري" تاريخ فرشته جلد ۱ ص ۱ "شيخ زاده هائے چنديري" ډورن حصه ۱ ص ۷۶ د "شيخ زاده هائے اوبَاش" ترجمه Base minded Saints كم ظرفه يا دون فطرته اولياء كړې ده چې لكه ظاهره ده مهمله او ډيره بې خونده ده.

۱۱. ډورن حصه ۱ ص ۷۷ ايضاً. ن ز ص ۱/۹۴ و ن ح جلد ۱ ص ۲۵۲ "و خود را سلطان محمد خطاب داد."

۱۲. مط ن ب. ن ا. ... په مجرد د ملازمت د سلطان به په قيد گرفتار شم دۀ هم تېښته وكړه او لاړ شۀ.". ن ز ص ۱/۹۴ و ن ح جلد ۱ ص ۲۵۳ ''۔۔۔۔پسر دولت خان لودی حاکم لاہور بہ ملازمت سلطان آمد واز روش سلوک سلطان دریافتہ کہ بہ قید گرفتار خواہد شد فرار نمود وپیش پدر رفت الخ'' يعنې د لاهور حاكم دولت خان لودي زوے د سلطان په خدمت كښې حاضر شۀ او د سلطان د سلوك له شانه ئې معلومه كړه چې بندي به شم وتېښ او پلار له لاړ.

ص ۸۳

ن ب "واقف شوے وۀ."

ډاكټر عبدالحليم ليكي چې "برطانوي بلوچستان" ته نژدې زمونږ د شمال مغربي سرحدي صوبې د ډيره اسماعيل خان په ضلع كښې يو كلے دے او د ابوالفضل په آئين اكبري

کښېښي بلوت د بيرون پنجند سرکار يوه پرګنه هم ياده شوې ده. (دي لودي سلټانز ص ۲ حاشيه ۳). د ډاکټر عبدالحليم کتاب په ۱۹۶۱ ء کښې چاپ شوے وۀ هغه وخت لکه د صوبه سرحد سابق برطانوي بلوچستان هم سره د بلوچي رياستونو په مغربي پاکستان کښې ضم شوے وۀ او هالۀ بلوچستان په دوؤ کمشنرو کوئټه ډويژن او قلات ډويژن مشتمل وۀ. له ډېو وړومبے سابق برطانوي بلوچستان وۀ. په ډېره اسماعيل خان کښې بلوټ کلے د ډېره اسماعيل خان په تحصيل کښې پنيالې او ډکې ته نزدې واقع دے. خوشحال بابا ئې د قجورو ډېره ستائنه کړې ده. لکه چې وائي:

چې خر ما ئې د بلوټ نۀ وي خوړلے و هغو وته پتهوې خرما خوند وي

۳. مط ن ب او فارسي نسخې. ن ا دلته "مير خلقه".

۴. ن ب سنان. سنام د مشرقي پنجاب د پټيالې رياست د کريم ګنج نظامت يوه قصبه او تحصيل دے. (دي لودي سلټانز ص ۱۱ حاشيه ۱) سامانه د پټيالې ښار جنوب ته او له سامانې سنام جنوب مغرب ته پروت دے. دواړه ځايونه له پانې پته شمال مغرب رويه دي. (وګورئ د الفنستن "دي هسټري آو انډيا" سره لګيدلے نقشه).

ص ۸۴

ن ا "نولک" فارسي نسخې "يک لک" ګوندې "نولک" په ځائے د يو لک په کتابت کښې د سهو له قبله ليکلے شوے وي.

۲. دغه کښې خصوصاً د هاتيانو ګڼه له مبالغې خالي نۀ ده. بابر د سلطان د فوځ ګڼه يو لک او د هاتيانو ګڼه يو زر ښئيلې ده. (بابرنامه اردو ترجمه ص ۳۱۴) د دښمن فوځ زمونږ په مقابله کښې اندازتاً يو لک سړي وو د بادشاه هاتيان او امرا ئې يو زر بيانيدۀ. "د ټالبټ انګريزي ترجمه ص ۱۸۲)

۳. د پانې پت قصبه چې د هندوستان د تاريخ له ډېرو اهمو جنګونو دا يو لوے جنګ ئې په خوا کښې شوے وۀ. د دهلې قطب څخو لويديز ته ده. او د کرنال نه په لږه فاصله سهيل خوا ته پرته ده.

۴. ن ز ص ۲/۹۵ "هفتم". ن ح هفتم ((هشتم)) برغدې ليندې د فاضل محشي له خوا د اضافې علامت دي.

۵. فارسي نسخې "روز جمعه".

۶ په قمري حساب اووۀ اويا کاله. سلطان بهلول په ۸۵۵ هجري (۱۴۵۱ ء) کښې بادشاه شوے وۀ او پانې پت کښې د سلطان ابراهيم او بابر جنګ په اتم رجب ۹۳۲ هجري (۲۱

اپریل ۱۵۲۶ ء) کښې شوې وه. چې سلطان شهید شو پښتانهٔ مات او مغل د هندوستان واکمن شول.

۷. د سلطان سکندر (۸۹۴ هجري تر ۹۲۳ هجري نه پس د سلطان ابراهیم د حکومت زمانه نهم ذي قعده ۹۲۳ هجري (۱۵۱۷ ء) نه تر اتم رجب ۹۳۲ هجري (۱۵۲۶ ء) وه.

علاوه له نورو مؤرخانو بابر پخپله توزک (توزک بابري یا بابر نامه) کښې د دې جنګ حال لیکلے دے. (اردو ترجمه ص ۳۱۴ ـ ۳۱۷) د تالیف انګریزي ترجمه ص ۱۸۲ ـ ۱۸۶). قطع نظر له مبالغې چې د سلطان ابراهیم د فوځ د اګنې په باره کښې شوې وې د هغهٔ د فوځ ګنه چې علاوه له پښتنه بکښې میواتیان او راجپوت هم وو ځ بابر د فوځ له شمیره چې دولس دیارلس زره وو ډیره وه. خو بابر یو هنرمند، هوښیار او تجربه کار جرنیل وهٔ چې د دولس کالو له عمره (کوم وخت چې په ۸۹۹ هجري (۱۴۹۴ ء) کښې د پلار د مرګ نه پس د فرغانې باچا شوے وهٔ.) د پاني پت تر جنګه چې هغه وخت په قمري حساب تقریباً د ۳۶ کالو وهٔ ټول عمر ئې په جنګونو، جګړو او مهمونو کښې تیر شوے وهٔ. کله به حاکم او باچا او کله به خوار پناه ګیر وهٔ. د هغهٔ د فوځ نظم، ترتیب، نقل او حرکت او بیا د اسلحې خصوصاً توپخانې بنیګړې او قوت او پرې دپاسه د پښتنو بې اتفاقي او غداری د بابر د برې لار هواره کړه. سلطان ابراهیم چې تر څو د هغهٔ د ذات تعلق دے یو تیرهٔ، زرهٔ ور، توریالے او مړنے پښتون وهٔ. خو هسې بریښي چې لکه بابر درلهٔ هغه شان ئې د یو فوځي لیډر صلاحیتونه نهٔ لرل. لکه چې یو معاصر مؤرخ ډاکټر عبدالحلیم وائي ابراهیم د شهزادګۍ په زمانه کښې د پوهې، مړانې او نیک عملی له قبله مشهور وهٔ. هغه د خپل پلار نیکهٔ په شان د کلکې عقیدې مسلمان وهٔ. په حیثیت د سپاهي او جرنیل بې له آهني ارادې او بې ویرې مړانې نور څهٔ صلاحیتونه ترې نهٔ وو بنکاره شوي بلکې تر څو چې د ذاتي شجاعت تعلق دے له خپلو پیش روانو زیات وهٔ. او د سختې نه سختې خطرې په وخت کښې بې ویرې او مستقل مزاج وهٔ خو سره د دیو خوبیو سلطان تدبر او دوربینې نهٔ درله او د خپلو مرورو سردارانو او خویښانو د پخلا کولو ئې پروا نهٔ کوله یا پکښې د چل هنر د کمې له قبله پاتې راغلے وهٔ. (دي لودي سلتانز ص ۱۹۳، ۱۹۴)

دغه شان یو بل معاصر مؤرخ ډاکټر سري واستاوه لیکي چې "سلطان ابراهیم له قابلیته او ذهانته عاري نهٔ وهٔ. بهادر او د خطرې پروا نهٔ کونکے سپاهي وهٔ. د ریاست کار ئې په انصاف او تن دهې کولو خو د پښتنو امیرانو د طبیعت ئې غلطه اندازه وکړه. او په هغوي ئې سخت ربط او ضبط حاوي کړو. (دي سلتنت آف ډیلهي ص ۲۸۰)

ډاکټر پانډے یو بل معاصر مؤرخ لیکي: "هغهٔ دلکشه کړهٔ وړهٔ لرل. په موسیقي مینین، د علم مربي، او د خوارو حاجتمندلو فیض رسان وهٔ. او نهٔ پکښې د جرأت، شجاعت او ذهانت کمے وهٔ. په خپلو مقاصدو حاصلولو او تجویزونو په عملي کولو کښې ټینګ او نه سترے کیدونکے وهٔ. خو څنې داسې نقائص ئې لرل چې کورنی ئې ورله تباه کړه. هغه مغروره، ضدي او بدبینه وهٔ. او کهٔ به یو ځل مشتعل شو نو هیڅ کله بخښونکے نهٔ وهٔ. هغهٔ د مرکزي حکومت د استحکام عزم کړے وهٔ خو د پښتنو امیرانو د جذباتو خیال ئې نهٔ ساتلو. د هغهٔ امیران هم ګرم وو خو ابراهیم کښې هم دا صلاحیت نهٔ وهٔ چې دښمنان دوستان کړي. یا هغه پالیسي بدله یا سسته کړي چې ناقلاري ئې پیدا کړې وه." (ارلي میډیول انډیا ص ۴۲۸)

لـه دغـو آراؤ ظاهره ده چې سره د څنو نقصونو او کمیو سلطان ابراهیم بهادر، جري، مستقل مزاج او د کلکې ارادې څښتن او په کار هیڅ کله نهٔ سترے کیدونکے وهٔ. او دیو خوبیو سره د فنون لطیفه ذوق لرونکے، د علم پالونکے او فیاض او سخي حکمران وهٔ.

بابر چې د سلطان ابراهیم د فوځي غلطو په باب څهٔ لیکلي دي هغه خو وقعت لري خو د پورتنو آراؤ په رڼا کښې چې مونږ د سلطان ابراهیم په باب د هغهٔ دا وینا څیرو چې "د هغهٔ د خپل فوځ رضا کولو ته زړهٔ نهٔ کیدهٔ او له خزانې ئې هیڅ نهٔ خرڅول. او حقیقت دا دے چې دا څنګه ممکنه کیدے شوه چې ئې فوځ خوشحاله کړے وے ځکه چې بې حده خسیس او بې کچه حریص او مال ټولونکے وهٔ." (بابر نامه اردو ترجمه ص ۳۱۴ د ټالبټ انګریزي ترجمه ص ۱۸۴) نو بابر راته بایـد چې سره د هغهٔ د عسکري صلاحیتونو، ادبي قابلیت او خوش اقبالي یو سپک سړے ښکاره شي.

د جنګ د بابر په بري د ختمیدو نه پس هغهٔ د دولت خان زوے دلاور خان د سلطان د نعش د لټون دپاره ولیږلو او په ډیره ګرانه ئې د مړو په انبار او د خاورو او وینو په ډیري کښې وموندلو. تاج ئې له سره پریوتے وهٔ. (دي لودي سلټانز ص ۱۹۱) د سلطان نعش ته نږدې ښادي خان کاکړ او د ګوالیار راجه بکرماجیت او پینځهٔ شپږ زره نور ننګیالي هم خواؤ شا مړهٔ پراتهٔ وو. (ایضاً ص ۱۹۰) بابر هم لیکي چې په کوم جنګ کښې ابراهیم مات شو بکرماجیت جهنم ته رسید شو. (بابر نامه اردو ترجمه ص ۳۱۸ د ټالبټ انګریزي ترجمه ص ۱۸۷) [اردو ترجمه د ابراهیم د شکست په زمانه بکرماجیت ومړ.]

بابر لیکي چې مونږ د مړو اندازه پینځلس شپاړس زره کړې وه. خو په اګره کښې د هندوستانیانو له خلې معلومه شوه چې پنځوس شپیتهٔ، پینځوس شلویښت زره فوځ وژلے شوے وهٔ. (بابر نامه اردو ترجمه ص ۳۱۷ د ټالبټ انګریزي ترجمه ص ۱۸۵) د بابر په دغه

شان بازاري گپ اعتبار کول او بې له څهٔ تنقیده ئې بیانول باید چې په بابر نامه کښې د هغهٔ د نورو بیاناتو په حقله هم مونږ محتاط کړي.

بابر بیا لیکي "بابا چهره وغیره مې تښتیدونکو پسې له دې گمانه چې ابراهیم تښتیدلے دے روان کړل او حکم مې ورته وکړ چې زر ځئ او تر اگرې ورسئ..... بیا زهٔ د ابراهیم لښکر گاه ته راغلم او د هغهٔ خیمې او ډیرې مې وکتلے .... ماسپښین د خلیفه کشر وررور طاهر تبریزي په ډیرو مړو کښې د ابراهیم نعش پروت ولید او دهٔ ئې زر سر پریکړو او راؤړ." (بابر نامه اردو ترجمه ص ۳۱۷ د ټالبټ انگریزي ترجمه ص ۱۸۲)

۷ الف. ن ز ۱/۹۲ و ن ح جلد ۱ ص ۲۵۹ "نذور بسیار به ارواح سلطان می آرند". ډورن (حصه ۱ ص ۷۹) د دې ترجمه داسې کوي "....د نرور او قنوج زائران د عقیدت بښنینه الخ" لکه چې پروفیسر ډاوسن وضاحت کوي د مخزن افغاني "نذور و فتوح" ډورن نرور او قنوج ولوستل. ظاهره ده چې د گوالیار نرور او د اوده قنوج سره د شهید سلطان څهٔ داسې خاص تړون نهٔ وهٔ چې په ټول هندوستان کښې یوازې هم له دغو دوؤ ځایونو ئې زائران قبر ته ورتلل.

۸. مط ن ب. ن ا "محروم".

۹. ا "غلامانه کړو" ن ب "غلامانه کهٔ".

ن ب "هر ځائے چې تهمت ناک وي".

ص ۸۵

مط ن ب. ن ا "صلعم".

ص ۸۶

ن ا "متهي". ن ب "مهتي". فارسي عبارت (ن ز ص ۱/۹۲ ن ح جلد ۱ ص ۲۶۱) مطلب داسې دے : "..... د شیر شاه نامه فرید او د پلار ئې حسن وه. د متي د طائفې او سور د قبیلې نه وهٔ. په هغه وخت چې سلطان بهلول په حکومت ممتاز شو د حسن پلار ابراهیم د روه له ملکه هندوستان ته راغے او د سلطان بهلول د امیرانو نوکري ئې وکړه. الخ"

د پښتنو په دریو لویو ویشونو سړبن، بټن او غورغوشت کښې د بټن دوه برخې دي. بټنـي چې د بیټ نیکهٔ صلبي اولاد یاد شوے دے. دوه څانگې کجین او ورشپون دي. بي بي متو د بیټ نیکهٔ لور او د شاه حسین غوري ارتینه وه او د دوي اولاد د پښتنو نسابانو متي بللے دے چې غلزي، لودي، سوري ئې څانگې دي.

۲. په فارسي نسخو کښې د شیر شاه د زیږون ځائے حصار فیروزه لیکلے دے. (ن ز ص ۹۲ و ن ح جلد ۱ ص ۲۶۲) د محل وقوع تعین ئې وړومبے مونږ کړے دے.

۳. د ن ح فاضل محشي (جلد ۱ ص ۲۶۲ حاشیه ۲) نارنول د پنجاب (غربي) د سیالکوټ په ضلع کښې د سیالکوټ ښار نه سهیل خاتیز ته ۳۵ میله او له دهلي ۸۶ میله سهیل لویدیز ته یاد کړے دے. او د امپیریل گزټیر (هنټر) جلد هفتم صفحه ۶۱ او آئین اکبري (جیرټ) جلد دوم ص ۳۸ او هندوستان (هملټن)جلد اول ص ۴۰۱ حوالې ئې ور کړي دي. اوس چا ته چې د سیالکوټ او د دهلي محل وقوع معلوم وي ښهٔ به پوهیږي چې کهٔ څوک ځائے له دهلي سهیل لویدیز ته ۸۶ میله وي هیڅکله سیالکوټ ته له یوهٔ لوري هم دومره نزدې نهٔ شي کیدے چې تر مینځه فاصله ئې ۳۵ میله وي. اصل کښې داسې معلومیږي چې فاضل محشي موصوف وړومبے د نارووال محل وقوع ولیکلو او بیا د هغهٔ د قلمزن کولو ئې وړیسې د نارنول محل وقوع هم ولیکلو. نارو وال لکه چې د هنټر امپیرئل گزټیر جلد اووم ص ۶۱ نه بلکې اټلسم ص ۳۸۱، ۳۸۲ وائي په سیالکوټ ضلعې په ریا تحصیل کښې له سیالکوټ ښاره ۳۵ میله سهیل خاتیز ته د راوي په قطبي غاړه پروت دے. او نارنول لکه چې په یاده شوي حاشیه کښې لیکلې دي له دهلي ۸۶ میله سهیل لویدیز ته واقع دے. (وګورئ د الفنسټن هسټري آو انډیا سره لګیدلې نقشه). او لکه چې امپیریل گزټیر جلد ۱۸ ص ۳۸۰ وائي د پیرنګوالے د زمانې د پټیالې ریاست په مهندر ګرهـ نظامت کښې د چالک ندی په غاړه د ریوارې نه د ۳۷ میلو په فاصله واقع دے.

ص ۸۷

دغه واقعات چې تر دې ځایه څرنګ په فارسي نسخو کښې لیکلي شوي دي مطلب ئې دا دے : د تاریخ نظامي مؤلف او معدن اخبار احمد مصنف وائي چې د شیر شاه نوم فرید او د پلار نوم ئې حسن وهٔ. د متي له طائفې او سور له قبیلې وهٔ. چې کوم وخت سلطان بهلول باچا وهٔ د حسن پلار ابراهیم له روهه و هندوستان ته راغے د سلطان د امراؤ نوکري به ئې کړه. څهٔ موده په حصار فیروزه کښې وهٔ او فرید په حصار کښې وزیږید. څهٔ موده نارنول کښې وهٔ. پس له سلطان بهلوله چې زوے ئې سکندر باچا شو جمال خان چې د دې کهالهٔ یو لوے امیر وهٔ د جونپور حاکم شو. حسن ئې څهٔ موده ملازم وهٔ. جمال خان ئې له خدمته خوشحال شو. او سهسرام او خواص پور ټانډه ئې چې د رهتاس له توابعو دي په جاګیر کښې او هم پینځهٔ سوه سوارهٔ ورو بخښل. د حسن اتهٔ زامن وو. فرید او نظام له پښتنې میرمنې او نور شپږ له وینځې وو. د حسن د فرید له موره ډیر سلوک نهٔ وهٔ. او دهٔ او د دهٔ وررور ته ئې پام لږ وهٔ. چې فرید لوے شو نو له پلاره مرور د جمال خان خدمت ته لاړ. حسن و جمال خان ته ولیکل چې د فرید ډاډګیرنه وکړه او ما لره ئې راواستوه چې دلته علم حاصل کړي. خو فرید رضا نهٔ شو

او وړ وئيل چې جونپور لـه سهسرامه بنهٔ دے او کافيه د قاضي حواشي سره او نور فارسي کتابونـه گـلستان بوستان او هم سکندر نامه ئې ولوستل. او سير انبيا او تواريخ کبنې ئې بنهٔ واقـفيت حـاصل کړو. او د صوري اخلاقو کسب ئې هم وکړو. (ن ز ص ۹۲، ۹۷/۱ و ن ح جلد ص ۲۶۱ تا ۲۶۴)

سهسـرام، خـواص پـور ټـانډه او رهتاس دا ټول ځايونه په بهار کښې دي. دا رهتاس دې هيڅکلـه د جهلـم لـه رهتاسه نهٔ مخلوطيږي. دغه د نظر د وړاندې رهتاس له سهسرامه ديرش ميله سهيل ته او د سرن او کوئل سيندونو گډون ځائے ته نزدې قطب رويه پروت دے. (امپيريـل گـزنـټيـر جـلد ۲۱ ص ۳۲۲، ۳۲۳) د حسن د زامنو تفصيل د ن ح فاضل محشي (جـلـد ۱ ص ۲۶۳ حـاشيـه ۱) د تـاريـخ شير شاهي (د انډيا آفس) ۲۱۸ ورق ۶ ب په حواله داسې ورکړے دے چې د حسـن اتـهٔ زامـن وو. فـريد او نظام د يوې پښتنې موره، سليمان او احـمد او مدا دريې واړه له يوې موره او علي او يوسف له يوهٔ حرمه وو. او ښادي خان يوازې له يوهٔ حرمه وهٔ. د ډورن عبارت (جلد ۱ ص ۸۱) هم دے ورروستي تفصيل سره سم دے. خو هغهٔ مـدا نـوم مـدهر يا مداهر ليکي. خو د تاريخ شيرشاهي د اصل فارسي چاپي نسخې له رويه چې په متعددو قلمي نسخو مبني ده او هم د ن ح فاضل محشي ئې تحشيه کړې ده، فريد او نظام د يـوې پښتنې موره، علي او يوسف له يوې موره، خرم او ښادي خان له يوې موره، او سليمان او احمد له يوې موره وو. دغه تفصيل د اليټ جلد چهارم ص ۳۱۰ سره د ن ح فاضل محشي ئې په ياده شوې حاشيه جلد ۱ ص ۲۶۳ حاشيه ۱ کښې ذکر کړے دے سم دے. (وګورئ تاريخ شيـر شـاهي ص ۱۳ سره د حاشيه ۱) تاريخ شير شاهي اردو ترجمه له مظهر علي خان ولا ص ۱۱، ۱۲

پـه فارسي نسخو کښې د کافيه ئې د قاضي شهاب الدين چې د دولت آباد وهٔ په ځائے عبـارت دے: "و کـافيـه را بـا حـواشي قاضي و ديگر کتب الخ" په کافيه د ن ح فاضل محشي حـاشيه ليکلې ده. "الکافيه في النحو تصنيف کرده جمال الدين" (جلد ۱ ص ۲۶۳ حاشيه ۳) د تـاريخ شير شاهي ص ۱۴ اردو ترجمه ص ۱۲) له رويه: کافيه باحواشي قاضي شهاب الدين الـخ". نو داسې مصنف ئې جمال الدين او محشي قاضي شهاب الدين شو. د ډورن جلد ۱ ص ۸۲ د تـرجمې عبارت هم د پښتو ترجمې په شان دے خو د قاضي شهاب الدين د وطن ذکر نهٔ لـري. د ن ز او ن ح عبـارت کښـې د تحصيل علم په سلسله کښې اخري الفاظ داسې دي "از سير انبيا و تواريخ في الجمله وقوفے حاصل کرد" د تاريخ شير شاهي الفاظ داسې دي "و کتب سير ملوک ماضيه اکثر اوقات مطالعه مي کرد."

۲. يعنې جوړښت.

۳. مط ن ب. ن ا "لسبت او اقربا و کا."

صـ ۸۸

مـط ن ب. ن ا "مـقـدمـاتـو". د "مـقـدمـانو" يا "ملکانو" هم معنیٰ ورکوي. خو دلته ترې مفسدان مراد دي. ځو لفظه په مخ ن ا کښې هم مفسدان دي.

صـ ۸۹

ن ب "نور هميش به ئې په مجلس کښې ستائش او دانائي د فريد مذکور کاوۀ."

مط ن ب. ن ا "بې بصير شوم".

صـ ۹۰

ن ب "لوے قابل او ارشد."

۲. ن ب "محتاج دې تا د تربيت."

۳. يعنې خواه (کۀ) له تا (تاسره وي) خواه (يا کۀ، او کۀ) له تا جدا وي.

۴. مط ن ب. ن ا "صاحب" الخ.

۵. ن ا "له خپل اعمال". ن ب "په خپله عمله".

صـ ۹۱

مـط د ډورن د تـرجمې (ص ۸۶) قوسين ما زيات کړل. د فارسي نسخو مضمون د فريد تقرير نۀ لري.

۲. مط ن ب: ن ا "مخې".

۳. له سياقه سباقه ظاهره ده چې مراد ترې ميره ده.

۴. پښتـو نـسـخـو کښـې اول ځل (د "خائے د تخت" نه وروستو) "سلطان بهلول" دے. خو لـکـه چې وروسـې "پـس له فوته د سلطان سکندر الخ" نه ظاهره ده سلطان بهلول د کتابت د سهوې په سبب د "سلطان سکندر" په ځائے وليکل شو. فارسي عبارتونه داسې دي: (ا) ن ح جـلـد ا ص ۲٦۷ "خدمت پدر را که سعادت دو جهانی او بود ترک نموده به آگره رفت درین اثنا سلطان سکندر به عالم بقا رفت و سلطان ابراهیم بر سریر سلطنت جلوس نموده بود" الخ۔ (۲) ن ز ص ۹۸/ ا ايضاً خو د "سلطان سکندر به عالم بقا رفـت" په ځائے "سلطان به عالم بقا رفت". د ډورن جلد ا ص ۸٦ عبارت داسې دے: "..... آگـرې ته لاړ چې د سلطان ابراهيم مسکن وۀ او دا شهزاده د سلطان سکندر د مرګ نه پس" الخ.

فارسي نسخو ن ز او ن ح کښې د نظام او سليمان دغه خبرې نشته. ډورن جلد ۱ ص ۸۷،۸۸ د دغه ځائے (د نظام د تقرير نه پس د سليمان د خبرو) ترجمه داسې کوي: "سليمان په دغه اشتعال خواب وکړو چې زما د فريد په تقدم او مشرى كار نشته بلکې دا د هر يوۀ فرد چې شان او شوکت ته ورسي فرض دي چې له کهترو د شفقت او مهرباني سلوک کوي". (ص ۸۸)

۲، ۲ الف. مط ن ا او ن ز و ن ح. ن ب. "جيند". ن ز ص ۹۸/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۲۶۹ "پيش محمد خان سور حاکم پرگنه چوند که يک هزار و پانصد سوار داشت رفت." ډورن جلد ۱ ص ۸۸ "محمد خان سور داؤد شاه خيل". ن ح جلد ۱ ص ۲۶۹ حاشيه، د مخزن افغاني د يوې نسخې په حواله "محمد خان سور داؤد شاه خيل".

د چوند قصبه تقريباً څلويښت ميله د سهسرام نه قبلې ته واقع ده. د زړې پرگنې چوند رقبه اوس د چين پور چې له بهبوا اووۀ ميله لويديز ته يو کلے دے علاقه ده. (ن ح جلد ۱ ص ۲۶۹ حاشيه ۲) بهبوا هم د سهسرام نه خواؤشا څلويښت ميله مغرب رويه پرته ده. جيند د مغربي پنجاب د يوۀ رياست نوم دے خو دلته دغه ځائے يا علاقه مراد نۀ ده.

۳. ډورن جلد ۱ ص ۸۸ Omeras of thy father يعني "..... ستا د پلار امرا". ترجمه صحيح نۀ ده. زما د وړاندې فارسي نسخې دا عبارت نۀ لري.

۴، ۴ الف. فارسي عبارت ن ز ص ۹۹/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۶۹ "شنيده مى شود که بابر بادشاه به هندوستان آمده و سلطان ابراهيم بمقابله ومقاتله او شتافته امروز فردا جنگ مى شود." يعني اوريدۀ شي چې بابر باچا هندوستان ته راغے. سلطان ابراهيم ئې مخې ته مرگ ژوبلې لره ورغے نن سبا به جنگ وشي." ډورن حصه ۱ ص ۸۸ "بابر پادشاه".

غالباً چې دلته دا نوم په پښتو نسخو کښې د بابر دپاره دې دپاره استعمال شوے دے چې مشهوره ده چې بابر به کله نا کله د ملنگانو په جامو کښې گرزيدو. له تاريخ حافظ رحمت خاني معلوميږي چې يو ځل د ملک شاه منصور منډړ دوي ځائے ته هم د ملنگانو په لباس کښې تلے وۀ او هم په هغې موقع ئې بي بي مبارکه د شاه منصور نور ليدلې وه. چې وروستو ئې بي بي او په حرم کښې ئې داخله شوه.

بيا د تاريخ داؤدي د يوۀ بيان (وگورئ ن ح جلد ۱ ص ۲۲۵ حاشيه ۱ او مرقع افغان) له رويه بابر د سلطان سكندر په زمانه کښې د څو قلندرانو سره په فقيرانه لباس کښې د سلطان دربار ته تلے وۀ. او هورې د سلطان او بابر تر مينځه څۀ بيت بازي هم شوې وه. سلطان چې

قلندران وليدل نو د خواجه حافظ شيرازي دا مصرع ئې ووې "نه هر كه سر بتراشد قلندري داند" او بابر ورله هم د خواجه د غزل په بله مصرع كښې خواب وركړو چې "نه هر كه آئينه سازد سكندري داند". او وړومبے د دې نه چې سلطان سكندر پيژندلے وے ترې راوتښ او نور قلندران چې په دربار كښې پاتې شوي وو له هغو د حال له حقيقته خبر شو. له دغو دواړو واقعو يوه هم بابر په خپل توزك كښې نۀ ده ليكلے. اګر كۀ په توزك كښې د يوې واقعې نۀ درج كيدل يوازې د نيشتيا دليل نۀ شي كيدے خو دغه بله قيصه د قلندرانو سره د هغوي په لباس كښې د بابر د سلطان سكندر دربار ته تلل، ورسره ليدل، بيت بازي كول او بيا ترې راتښتيدل، د نورو قلندرانو هم هورې پاتې كيدل او د سلطان خبريدل چې دغه بل قلندر خو بابر وۀ وغيره داخلي طور دومره غير اغلبه ده چې اعتبار پرې نۀ شي كيدے. بابر په هندوستان چې د پانيې پت د جنګ نه وړومبے كوم تاختونه كړي وو د هغو تفصيل ئې پخپله ليكلے دے او له هغو هيڅ كله دا قياس نۀ شي كيدے چې د اباسين كښې غاړې ته بابر د سلطان سكندر په زمانه كښې دومره لرې تلے وۀ لكه چې له دې قيصې ليدۀ شي. بيا دا خبره دومره اهمه او دلچسپه وه چې د بابر ئې ذكر نۀ كول ناممكن خو نه خو انتهائي غير اغلب وو بيا لكه مرقع افغان چې د تاريخ داؤدي بيان مفصل راوړے دے له رويه ئې چې بابر لاړ نو سلطان سكندر ووې چې هغه مشر قلندر راولئ نو نورو قلندرانو ورته ووې چې هغه خو تلے دے. سلطان ووې هغه بابر خو نۀ وۀ دغه نورو ورته كړۀ چې هو. كۀ په دغه خبرو اعتبار وشي نو غالب ګمان خو به هم دا وي چې دا نور قلندران هم د بابر صلاح كار وو نو سلطان به هسې ولې پريښودل حال دا چې لكه له قيصې ښكاري سلطان ورته هيڅ ونۀ وئيل.

ص ۹۳

دا نوم ن ا كښې په اختلاف بهادر خان او بهار. ن ب كښې بهار خان. ن ز ص ۹۹/ا كښې پهار خان (غالباً پهاړ خان) او ن ح جلد ا ص ۲۷۰ كښې بهار خان كښلے دے. ډورن حصه ا ص ۸۹ پار خان (غالباً پهاړ خان) فرشته جلد ا ص ۲۲۲ بهادر خان.

ص ۹۴

ن ا و ن ب "سلطان محمد" فارسي نسخې "سلطان محمود". لږ په مخ پښتو ترجمه كښې هم "سلطان محمود". بره چې سلطان محمد ياد شوے دے هغه بهار خان د هيبت خان لوحاني زوے دے. او دا بل يعني سلطان محمود لكه چې كتاب پخپله ښيي د سلطان سكندر زوے دے.

۲. ن ب "..... وركا راتلل" الخ.

۳. یعنې راتلل به د شیر خان په خدمت د سلطان (بهار خان چې خان ئې سلطان محمد بالۀ) ضروري شي.

۴. ن ا و ن ب "شمشیر خان".

۵. فارسي نسخې ن ز ص ۱۰۰/۱ ن ح جلد ۱ ص ۲۷۱ "شادي نام غلام خود را پیش شیر خان فرستاد".

۶ ن ب "بخره دروي". بخره بنډه یا بخره ونډه. (حصه، ویش، قسمت)

۷. ن ب "امر".

۸. ن ب "پسیشا" یعنې پس شا. پس پشت.

ص ۹۵

پښتو ترجمه "جاجي پور". ن ز ص ۱۰۰/۱،۲ او ن ح جلد ۱ ص ۲۷۲ د عبارت ماحصل دا دے چې محمد خان ولګید ښادي ئې وګمارلو چې له سُکا چې د خواص پور ټانډې د پرګنې شقدار وۀ دغه پرګنه راونیسه او په سلیمان ئې وسپاره.

د خواص پور ټانډې ذکر خو پخوا شوے دے. حاجي پور د پټنې په خوا کښې ترې قطب ته پروت دے. حاجي پور صحیح نۀ ښکاري، دې دپاره هم چې لکه به په مخ ولیدل شي حاجي پور د بنګال په حکومت کښې شامل وۀ.

۲. ډورن حصه ۱ ص ۹۱ ایضاً. ن ز ص ۱۰۰/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۲۷۳ "سلطان محمد". مراد ترې بهار خان مخاطب په سلطان محمد دے.

۳. پښتو ترجمه ن ا "په ګړی د مانکپور دے." ن ب "ګړی د مانکپور کښې دے." الخ وګورئ ص ۷۶ (د ص ۷۵ او ص ۸۱ د نوټونو ترمینځه).

۴. ن ب "لوول".

۵. پښتو ترجمه او ډورن حصه ۱ ص ۹۲ "خلیفه" ما د فارسي نسخو په بنا علاوه کړل.

ص ۹۶

د فارسي نسخو د عبارت ن ز ص ۱۰۱/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۲۷۵ مطلب دا دے چې یوه ورځ سلطان جنید برلاس شیر خان له خانه د بابر باچا خدمت ته بوتلو. چې د باچا نظر په شیر خان پریوت نو جنید ته ئې ووې چې د دغه پښتون چې شیر خان نومیږي له سترګو فتنه او شورش بریښي. په بند کول ئې بویه. په دا میان ډوډۍ راغله او شیر خان چې مینچې (ماهیچه. افضل خان ئې ماهے یا مهے یعنې کب او ډورن حصه ۱ ص ۹۲ ئې Meat غوښه ترجمه کړې ده) په چاړۀ ریزه ریزه کړے او خوړے ئې نو بابر میر خلیفه ته ووې چې دې پښتون عجیبه کار

وکړو او هر کله چې څهٔ شير خان له محمد خانه کړي وو تړي خبر وهٔ نو د شير خان هوښيارتيا ته ئې اشاره کړه. شير خان د باچا او مير خليفه وبله خبرو کولو نه وپوهيد چې د هغهٔ په حقله سره ګنيږي. وويريد او وړومبے له دې چې نيولے شوے وے وتښتي.

د افضل خان پښتو ترجمه او د ډورن انګريزي ترجمه هم مضمونه دي او له يو شان نسخو کړے شوے ليدهٔ شي.

۲. زما د وړاندې پښتو ترجمه "از راه احتراز". فارسي نسخو کښې دا عبارت نشته. د ډورن حصه ۱ ص ۹۲ ترجمې نه د اعتراض معنيٰ ولاړيږي. he began to scold Khalifa هغهٔ يعنې باچا خليفه ته بدرد وئيل يا د خليفه زورل يا ملامتول ئې شروع کړل. الخ.

۳. ن ب "بې اجازته دې تا".

۴. مط ن ز ا يعنې کهٔ د بې اجازته راتلو بې قاعدګي مې نهٔ وے کړے او ستا ملاحظه مې کړے وے يا ستا په مخکښې مې خپل شرم په ځائے ساتلے وے نو ننګ ناموس مې تلو ن ب "په دا کښې شرم دي ما د ننګ او د ناموس الخ" دلته هم تقريباً هم دغه مطلب دے چې کهٔ ستا په مخکښې مې د خپل شرم (رونيداري) پاتې کيدو خيال ساتلے وے نو دغه بل شرم يعنې ننګ او ناموس مې تلو. داسې به وړومبی حصه محذوفه يا مقدره ګڼل کيږي. د ډورن حصه ۱ ص ۹۲ د انګريزي ترجمې پښتو به داسې وي: "د رخصت د نهٔ بيامونډلو امکان هم وهٔ نو د خپل ننګ او ناموس د ژغورلو په نيت" الخ فارسي نسخو کښې دا عبارت نشته.

۵. د قوسين ترمينځه عبارت د نٔ ز ص ۱۰۲/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۷٦، ۲۷۷او ډورن حصه ۱ ص ۹۳) په بنا علاوه کړے شو. فرشته هم مضمون زمونږ د قوسين مطابق دے. (جلد ۱ ص ۲۲۳) البته د نقيب شاه په ځائے سلطان محمود والئ بنګاله او ن ح جلد ۱ ص ۲۷۷ هم دغه شان. فرشته قطب خان د منګير حاکم ياد کړے دے مونګير د پټنې مشرق ته جنوباً او د بهاګلپور شمال مغرب ته د وروستي ياد شوي ځائے ته مقابلتاً زيات نزدے دے). واقع دے.

٦ مط ن ز و ن ح. زما د وړاندې پښتو نسخې او ډورن "قطب شاه".

۷. ن ب "کاهنپور". ډورن حصه ۱ ص ۹۳ "کانپور". کهٔ کان پور وي نو د يو پي مشهور ښار دے چې د لکهنو جنوب مغرب ته واقع دے.

ص ۹۷

پښتو نسخې "ميانجيو" ډورن حصه ۱ ص ۹۴ "ميان حسود" وګورئ د عباس سرواني تاريخ شير شاهي يا تحفه اکبر شاهي ص ٦۱، ٦۲. "ميان حسو ((حسنو)) بن عباس خان سرواني، من که مؤلف تحفه اکبر شاهي ام عباس خان يکے از اجداد ماست."الخ. (اردو

ترجمه ص ۵ ۱،۲،۴) يعني د ميان حسو (حسنو) پلار عباس خان سرواني د تحفه اکبر شاهي د مؤلف (چې د هغهٔ نامه هم عباس ده) له نيکونو څخه يو دے.

۲. ن ب "خنې لوحاني".

۳. مط ن ب او فارسي نسخې په شمول د فرشته او ډورن حصه ۱ ص ۹۴. ن ا "شير خان په عرض کړ".

۴. ن ب "په اوريدلو".

۵. ن ب "مۀ کوه".

صـ ۹۸

ن ب "صيانت و آبروئے".

سـلطان محمد شاه مرحوم. ډورن حصه ۱ ص ۹۴ هم سلطان محمد شاه مرحوم. سلطان مـحـمـد شاه د بهار خان ولد دريا خان لوحاني لقب وۀ او جلال خان د دۀ زوے وۀ. وګورئ په شا ص ۹۳، ۹۴.

۳. ن ب "د عکس".

صـ ۹۹

مط ن ب ن ا "بې مرات".

د دې علاقې.

"مـمکن نۀ دي" نه پس زما د وړاندې پښتو نسخو کښې عبارت داسې دے: "مصلحت دا دے چې پـه دا ملک متصرف شم تدبير او حاصل د دې مصلحت دا دے چې شير خان وته ووايـه" الخ. دا عبارت ناقص او مهمل غوندې دے. ما د ډورن د ترجمې حصه ۱ ص ۹۶، ۹۷ پـه بـنا بدل کړو. زما په مخکښې فارسي نسخو کښې دغه ځائے نشته. د ن ح فاضل محشي د جلد ۱ ص ۲۷۸ په حاشيه ۲ کښې د متعلقه مضمون په حقله د مخزن افغاني د يوې نسخې د عبـارت څۀ حـصـه نـقـل کړې ده خو دغه اقتباس له "شير خان را بگو" (شير خان ته ووايه) نه شروع کيږي يعني زمونږ د ناقصې ټوټې نه پس.

۴. پښتـو نسخې "د هندو لښکر ته" ظاهره ده چې "د هندو لښکر ته" يا "د هند و لښکر ته" دواړه رنګـه بـه صـحيـح نۀ وي. د ن ح جلد ۱ ص ۲۷۸ په حاشيه ۲ کښې چې مونږ په خپله تيره حاشيه کښې د کوم اقتباس ذکر کړے دے په هغه کښې "چون قريب لشکر برسيم" دے. ډورن حصه ۱ ص ۹۷ داسې ترجمه کوي. "له هغه پسه چې د هغوي داخله په دغه فوځ کښې عـمـلي شي او ضـروري قـول قـرار وشـي" الخ دغه ترجمه "چون قريب لشکر برسيم" سره

سمون نهٔ خوري. د ياد شوي اقتباس متعلقه حصه داسې ده: ''چون قریب لشکر برسیم وعہد وقول کما ینبغی گرفتہ بہ آنہا پیوندیم وکومک از آنہا گرفتہ شیرخان را مستاصل ومعدوم ساختہ ملک بہار را بتصرف خود آریم'' يعني هر کله چې لښکر نه نـزدې ورسـو نـو لـکـه چې بايد قول قرار سره کړې له هغو به پيوستون وکړو او ترې کومک اخستې شير خان به مات او ورک کړو او د بهار ملک به په خپله قبضه کښې راولو. لکه چې افضل خان هم. له لفظي فرقه قطع نظر ترجمه کړې ده.

۵. مط ن ب. ن ا ''عقل''.

۶ ن ا و ن ب دواړه ''فيصل'' يعني په فيصل يا فيصله کولو د مهمونو يا په فيصلو د مهمونو.

۷. ن ب ''مردي''.

۸. مط ن ب. ن ا ''بنګالي''.

ص ۱۰۰

يعني نو بنګاليانو لره څهٔ بنائي (چې د پښتون د سيالی انديښنه وکړي).

ن ب اودو، خوبوليو.

مط ن ب او د ډورن د ترجمې. ن ا ''په ځنګ''.

ن ب ''يو ساعت به جنګ ورسره برپا کړم''.

ص ۱۰۱

ن ز ص ۲/۱۰۳ و ن ح جلد ۱ ص ۲۸۲ ''وه به مير احمد ترکمان که يکی از مردم تاج خـان بود پيغام فرستاد'' الخ. فرشته جلد ۱ ص ۲۲۴ ''به مير احمد ترکمان که عمدهٔ نوکران تاج خان و خالوی لاډو ملکه بود'' الخ ډورن حصه ۱ ص ۹۹،۱۰۰ لکه زمونږ د پښتو نسخو پښتانهٔ ورونه مير احمد، مير اسحاق و ميرداد.

نـو د ن ز، ن ح او فرشته د بيانونو له رويه مير احمد پښتون نه بلکې ترکمان وهٔ. کهٔ دا دوه کسان نور مير اسحاق او ميرداد ئې اعياني يا علاتي ورونه وو نو د دوي به هم هغه قوميت وهٔ چې کـوم د ميـر احـمد. فرشته لکه چې تاسو وليدل دا وضاحت هم کوي چې مير احمد د لاډو ملکې د مورنی ترور خاوند (خالو) وهٔ.

ص ۱۰۲

مط ن ب. ن ا ''ونهٔ کا''.

۲. ن ب ''.... راغـلـل او تيـرسو من زر له کوکی چې ارتينه د نصير خان لوحاني وه، پس له وفاته د دهٔ په لاس د شير خان کښېوتل او تير سو من سرهٔ زر له بي بي فتحې'' الخ.

۳. سيـکـري چې عـام طـور سـره فتـح پـور سيـکـري بلل شي د اګري مغرب (څهٔ ډيره لږه

جنوب) ته تقريباً د ۲۳ ميلو په فاصله پر ته ده.

۴. د ډونگر پور راجه ترې مراد دے. ډونګر پور د اوړے پور سهيل ته واقع دے. دواړه د سيسوريه راجپوتانو رياستونه دي.

۵. د دهلي او اګرې دواړو نه جنوب مغرب ته او د اجمير نه جنوب ته د راجستهان په ميواړ کښې مشهوره او تاريخي قلا ده چې نۀ صرف د راجستهان بلکې په ټول هندوستان کښې عظيم ترينه قلا ګڼلے کيدے شوه. د اودے پور (د ميواړ د راجګانو پستنے دارالحکومت) او کوټه (د هاډه راجپوتانو رياست او صدر مقام ئې) ترمينځه پر ته ده. له وړومبي ځايه شمال مشرق او له وروستيه جنوب مغرب ته او د هاډه ګانو بل رياست بوندي (چې صدرمقام ئې هم دغه نوم لري او مقابلتاً زيات شمال ته دے) نه هم جنوب مغرب ته. د اودے پور نه وړومبے د سيسوريه راجپوتو رانړاګانو مرکز هم چتوړ وۀ.

۶. کۀ محمود د بابر برخلاف د رانړا ګانو مرسته کړې وه نو په دې باب مثال پخپله بابر قائم کړے وۀ. په خپل توزک کښې ليکي: ''راناسنگا ئے کافر اگر چہ در وقتیکہ ما در کابل بودیم ایلچی اوآمدہ اظہار دولت خواہی کردہ این چنین قرار کردہ بود کہ اگر بادشاہ از ان طرف در نواحیٔ دہلی بیاید من از ین طرف بر سر آگرہ روان می شوم من ابراہیم را زیر کردم۔ دہلی و آگرہ را گرفتم۔تا این وقت از ین کافر ہیچ حرکتے ظاہر نشد۔'' (فارسي ترجمه ص ۳۰۹ مطبوعه مرزا محمد شيرازي ملک الکتاب بمبئ) مطلب دا دے چې مونږ کابل کښې وو نو رانړا سانګا کافر استازے راليږلے وۀ د وفا دارۍ بننينه ئې کوله او وې وئيل چې کۀ زۀ د کابل له لوريه دهلي وته را ورسم نو دې به له دې بل طرفه په اګره راشي ما ابراهيم مات کړ، دهلي او اګره مې ونيوۀ او لا تراوسه له دې کافره څۀ حرکت ونۀ شو. (او اردو ترجمه ص ۳۴۸) په عکس د دې راجپوتان وائي چې د سلطان ابراهيم برخلاف د اتحاد تجويز وړومبے د بابر له اړخه رانړا سانګا ته شوے وۀ. او ورسره ئې دا هم وئيلي وو چې د معاهدې شرائط دې ورته ور وليږلے شي او دا تجويز هم بابر کړے وۀ چې دهلي به هغه او اګره به رانا نيسي. (تفصيل دپاره وګورئ ''ميواړ او دې مغل امپررز'' ص ۲۰، ۲۱).

د رانړا سانګا نوم سنګرام سنګهـ وۀ بابر ورله د پاني پت د جنګ نه تقريباً يو کال پس (مارچ ۱۵۲۷ء) د کهانوا جنګ کښې چې د سيکرې جنګ هم بللے شي شکست ورکړے وۀ. وروستو سلطان محمود له پټنې (بهاره) اوړيسې ته لاړ او هورې هم په ۹۴۴ هجري کښې وفات شو. ن ز ص ۱/۱۰۵ و ن ح جلد ۱ ص ۲۸۸. ن ز په هندسو کښې ۹۴۱ خو په حروفو کښې اربع و اربعين و تسعمايه (۹۴۴) لري.

۷. دا نوم په اختلاف په مختلفو نسخو او کتابونو کښې بين، پټن، او بين راغلے دے. ما ن ح

سره سم بېن وليکلو

ص ۱۰۳

ن ب "بې جنګه او بې جدله په لاس" الخ.

۲. ن ب "متوجه کړ".

۳. ن ب "لښکر ډېره شوه".

۴. وګوره د ص ۱۰۲ نوټ ۲ (د سلطان محمود له بهاره اړيسې ته تلل او هورې په ۹۴۴ هجري کښې مړېدل) سرواني د سلطان محمود له بهاره و اړيسې ته د تګ ذکر نه کوي او د وفات کال ئې ۹۴۹ هجري ښيي. (وخود در ملک پټنه رفته نشست۔ بعد از ان هرګز خيال پادشاهی نه کرد و در سنه نهصد و چهل ونه وفات کرد) تاريخ شير شاهي ص ۹۲ اردو ترجمه ص ۶۴. فرشته جلد ۱ ص ۲۲۴ ئې پټنې ته او له هغه ځايه اړيسې ته د تګ او هورې ئې په ۹۴۹ تسع و اربعين و تسعمايه کښې د وفات ذکر کوي. او بداېوني (اردو ترجمه ص ۲۴۹) هم دغه شان وينا کوي.

ص ۱۰۴

دا کلمه مختلفو نسخو او کتابونو کښې بېل بېل شان بهر کنده، جهر کنده، مهر کنده، نهر کنده، چهار کنده راغلې ده. خو لکه چې د ن ح فاضل محشي جلد ۱.ص ۲۹۱ حاشيه ۲ ليکي بهر کنډه صحيح نوم دے. پښتو نسخو کښې هم بهر کنډ دے يا بهر کنډه لکه چې په ياده شوې حاشيه کښې کښلے دے. موصوف فاضل محشي په دې حاشيه کښې ليکي چې "د رينل د نقشې له رويه بهر کوره له چناره ۲۷ ميله سهيل ته ده خو په نوې نقشه کښې له چناره تقريباً ۵۰ (پنځوس) ميله سهيل ته د کرمناشا سيند لويديز ته واقع ده." چنار په بهار کښې هم د بهار له سهسرامه لويديز ته او د يو پي له مشهور ښار بنارسه جنوب ته واقع دے. د تاريخ شير شاهي د اردو ترجمې فاضل محشي ليکي چې "بهر کنډه ځنو جهر کنډه کښلې ده او غالباً هم داسې صحيح ده. د راقم الحروف د اکبر نامې په قلمي نسخه کښې هم جهر کنډه ليکلې ده. د دې نه علاوه وګورئ طبقات اکبري ص ۲۰۰ فرشته جلد ۱ ص ۵۰۴ کيمبرج هسټري جلد ۴ ص ۳۰. (ص ۲۷ نوټ ۱) ـــ د جهار کنډ علاقه د ريوا جنوب ته په صوبه جات متوسط کښې واقع ده. دلته هم غر شته. وګورئ زمونږه ص ۷۵ نوټ ۵ او وګورئ رتنپور دپاره زمونږ ياد شوے نوټ چې مو پکښې د ن ح جلد ۱ ص ۲۴۶ حاشيه ۱ په حواله رتنپور په جهاکنډ کښې ياد کړے دے. تاريخ شير شاهي د فارسي نسخې ص ۱۰۵ او هم د اردو ترجمې په متن کښې په ترتيب بهر کنده او بهر کندهـ ده. او د همايون باچا خور ګلبدن بيګم په همايون نامه کښې ليکي چې "چون حضرت شنيدند۔۔۔۔تا يک سال در آګره بودند و بعد از ان به جانب چناده رفتند و

چناده و بنارس را گرفتند ـ شیر خان در پرکنده بود"ـ یعـنـي چې بادشاه واوریدل..... تر یوهٔ کاله په اگره کښې وهٔ بیا و چناده ته لاړ او چنـاده او بنارس ئې ونیول. شیر خان په پر کنده کښې وهٔ. فارسي متن ص ۱۹۲ اردو ترجمه ص ۲۳ خو د "شیر خان در پر کنده بود" ترجمه نهٔ ده شوې. "چناده و چناړهـ، چناډه، چناو، پر کنده، بیر کنده، بیر کنډه.

۲. مـانـډو د مـالـوې د عـلاقـې مشهـور او تـاریخي ښـار دے. اندور نه جنوب مغرب ته او د بـړودے نـه جـنـوب مشـرق ته له وروستي ځایه مقابلتاً زیات لرې پروت دے. او د گجرات له احمد آباده هم جنوب مشرق ته په کافي فاصله واقع دے.

۳. ن ب "خوشي تشي".

ص ۱۰۵

مـط ن ب. ن ا "پـه هـر رنګ کښې چې دلاسـه کیدهٔ رضامند ئې کول." ن ب "په هر رنګ چې ئې دلاسه کیده رضامندي ئې کوله.".

۲. مـط د سـرواني تاریخ شیر شاهي فارسي ص ۹۶. اردو ترجمه ص ۲۶ او ډورن حصه ۱ ص ۱۰۴. پښتو نسخې "حبیب سرواني".

۳. سرواني فارسي نسخه ص ۹۶ اردو ترجمه ص ۲۶ "میان بین شاهوخیل" ډورن حصه ۱ ص ۱۰۴ "میـان بـن لودي شاهوخیل" غالباً چې د ډورن په مخکښې د مخزن افغاني په فارسي نسـخې کښـې یـا خو د میان بین لودي شاهو خیل" په ځائې میان بن لودي شاهوخیل وهٔ. او یا ډورن پـه لـوسـتـلـو کښـې غـلطي کړې ده. د مخزن افغاني په حواله د سرواني د فارسي چاپې نسـخې فاضل محشي میان بین لودي شاهوخیل لیکي (ص ۹۶ حاشیه ۳). شاهوخیل د لودیو څانګه ده. سلاطین ئې هم له دې څانګې وو.

۴. ښائي چې "تجاسر" وي په معنیٰ د فخر او دلیري کولو.

۵. ډورن حصه ۱ ص ۱۰۵ "د هغهٔ پلار ابراهیم شاه".

ص ۱۰۶

"وآنچه ملک بنگاله از کهری ((اگرہی)) این طرف بود تمام در تحت تصرف خود درآورد"ـ (سـرواني ص ۱۰۱ برغې لیـنـدې د محشي اضافه) یعني د بنګالې ټومره ملک چې د ګرهي دې لورې ته وهٔ وې نیولو. اردو ترجمه د "ګرهي" په ځائې "تیلیا ګرهي". (ص ۶۹)

ص ۱۰۷

پښتـو نسـخې "لـکهـنو". ډورن حصه ۱ جلد ۱۰۶ لکهنور المعروف ګوړ. د ګوړ بله نامه لکهنوتي ده نه چې لکهنو یا لکهنور. جنت آباد هم د ګوړ یا لکهنوتي بله نامه ده. د بنګال

لکهنوتي او د يو پي د سهارنپور ضلعې په لکهنوتي مونږ په تيرو نوټونو کښې بحث کړے دے. جوته ده چې دلې د بنگال لکهنوتي يا گوړ مراد دے د گوړ يا لکهنوتي نامه جنت آباد لکه د همايون باچا خور گلبدن بيگم په همايون نامه کښې وائي همايون ايښے وهٔ. (تا نه، ه در ولايت گور بردند و گور را جنت آباد نام کردند) وگورئ همايون نامه فارسي متن ص ۱۹۳ اردو ترجمه ص ۷۴)

۲. اصل "حصار کړې وه."

۳. د بهار ملک. وگورئ زمونږ صفحه ۸۲ نوټ ۱

۴. دورن حصه ۱ ص ۱۰۷. سرواني (فارسي نسخه ص ۱۰۵ اردو ترجمه ص ۷۲) هم "چو دامن" ن ز ص ۱۰۸/۱ او ن ح جلد ۱ ص ۲۹۴ "چنتامن" خو د ن ح جلد ۱ ص ۲۹۴ حاشيه ۲ کښې د تاريخ شير شاهي يعني د سرواني او مخزن افغاني په حواله "چورامن" دے.

ص ۱۰۸

ن ب "دا خلق مې د قلعې د بر کند راروان کړل".

ص ۱۰۹

۱ ن ا او ن ب "مستور". سرواني ص ۱۰۸ "خود مستعد شده اسلحه پوشيده سوار شده و بجلال خان بدست وکيل خود گفته فرستاد" الخ. اردو ترجمه ص ۷۴ "آپ سلاح پہن مستعد ہو سوار ہوا اور جلال خان اپنے وکیل کے ہاتھ کہلا بھیجا". يعني پخپله هم اسلحه اچولے او مستعد شوے سور شو او د خپل وکيل په ذريعه ئې جلال ته پيغام واستولو. الخ. په اردو ترجمه کښې "مستعد ہو" د امر صيغه نهٔ ده بلکې په زړه وينا کښې د حاليه يعني د اوسنی وينا "مستعد ہو کر" مترادف.

۲. ن ب "او له طرفه د راجا چې د رهتاس د قلعې وهٔ".

۳. ن ب "حق تعالیٰ".

۴. ن ب "بهتر دا دي".

ص ۱۱۰

د شيخ علي سرواني زوے عباس د تحفه اکبر شاهي يا تاريخ شير شاهي مؤلف.

۲. وگورئ سرواني (چاپه فارسي نسخه ص ۱۱۰، ۱۱۱ او اردو ترجمه ص ۷۵، ۷۶) چې د دې دوليو د قيصې ترديد کوي لکه چې خواجه نعمت الله په مخزن افغاني کښې کړے دے. د دورن ترجمه حصه ۱ ص ۱۱۰ هم دغه شان ده لکه افضل خان. البته څنگه چې خواجه نعمت الله په تاريخ خان جهاني (ن ز ص ۱۰۷/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۲۹۴، ۲۹۵) کښې کټ مټ د دوليو قيصه کښلې ده. په لنډو داسې ده چې له گردو دولسو سوؤ دوليو په مخکښېنو

څو ډولیو کښې زړې ښځې ناستې وې. چې دربانانو د دیو څو ډولیو تالاشي واخسته نو راجه ته شیر خان غوریږ وکړ چې دا رنګ زمونږ بې عزتي کیږي. راجه خپل سړي له تالاشی کولو منع کړل. او په دا چل ئې تولې ډولی او نور اسلحه بند ځوانان او ورپسې شیر خان هم سره له خپله فوځه قلاته ورننوتل او وې نیوله. د ن ح فاضل محشي جلد ۱ ص ۲۹۵ چې کوم خائے دا قیصه ختمیږي هورې په حاشیه کښې د ډورن د ص ۱۰۷، ۱۰۸ حواله ورکوي. تولـه قیصـه پـه ډورن کښې له ص ۱۰۷ تر ۱۱۰ راغلې ده. په مینځ کښې ئې د ګوړ د قلا د فتحې ذکر هـم راځي. د ډولیو د قیصې ذکر او تردید په ص ۱۱۰ دے. فرشته جلد ۱ ص ۲۲۵ د ډولیو دغه قیصه په څۀ اختلاف لیکي. د سرواني د اردو ترجمې فاضل محشي په دې واقعه انتقاد کونکے لیکي "د حیرانتیا خبره ده چې د لویدیز نوې مؤرخان دغه افواه مستنده او صحیح ګڼلے د شیر شاه پـه کردار سخت انتقاد کوي. د سرواني د شهادت په مقابله نور بیانونـه نـۀ شي غوره کیدے. د مغلو په عهد کښې چې کوم تاریخونه مرتب شوي دي په هغو کښې دغـه د ډولیو قیصـه پـه طور د یوې ربښتینې واقعې بیان شوې ده لکه چې په تاریخ خان جهاني ص ۲۹۴ کښې. (د اردو ترجمې ص ۷۶ حاشیه ۱).

۲. مط ډورن. پښتو نسخې "غازي خان". د شیر شاه د مشر زوې نامه عادل خان وه. فرشته جلد ۱ ص ۲۲۹) او سرواني فارسي ترجمه ص ۱۱۲ او وګورئ هم دغه خپل کتاب اریخ مرصع ص ۱۳۶

۱. یعنې یو خائے به نۀ ایساریدو. وګورئ سرواني فارسي چاپه نسخه ص ۱۱۱،۱۱۲ او دو ترجمه ص ۷۶.

ډورن حصه ۱ ص ۱۱۰ "غازي خان".

مط ډورن حصه ۱ ص ۱۱۰ پښتو نسخې "سلطان برودانې".

یعنې بنګال.

پښتو نسخې "زوے د برلاس". ډورن حصه ۱ ص ۱۱۱ "حورې برلاس" سرواني چاپه سي نسخه ص ۱۱۵ او اردو ترجمه ص ۷۸ "پرې برلاس".

زما پـه مخکښې پښتو نسخې "چې پښتانۀ وو". ډورن حصه ۱ ص ۱۱۱ "دواړه تانۀ". څو برلاس (مغل ترک) څنګه پښتون کیدے شي؟ ګوندې برلاس ئې قومیت نه کې د نوم حصه وې لکه د څنو پښتو نوم چې مغل خان وي. فارسي نسخو (ن ز او ن ح) ې دغه خائے نشته.

صـ ۱۱۱

پښتو نسخې "برلاس".

۲. ډورن حصه ۱ ص ۱۱۲ "د منير قلا ته په رسيدو خبر شول". سرواني "---- در پرگنهٔ منير شيخ يحيٰ فرود آمده بودند خبر شد". (الخ ص ۱۱۷) يعنې "..... د شيخ يحيیٰ په پرگنه منير کښې مقيم وو خبر شول. " الخ. اردو ترجمه ص ۷۹. ډورن د منير هجه مُرنِیُر کوي چې صحيح نهٔ ده. لکه چې وړاندې هم عرض شوے دے صحيح تلفظ ئې مَرنِیُر دے.

۳. پښتو نسخې دلته هم "زوے د برلاس".

۴. ايضاً.

۵. ډورن حصه ۱ ص ۱۱۲ "مؤيد بيگ زوے د سلطان محمود سره د خپلې موره". سرواني فارسي چاپه نسخه ص ۱۱۸ "مويد پسر سلطان (محمود ولدي) قوسين د انډيا آفس لائبريری لندن د نسخې ۲۱۸ په بنا علاوه شوي دي. اردو ترجمه مويد بيگ جو بيټا سلطان محمود دلدي" الخ.

۶ ډورن "جهانگير قلي، ابراهيم بيگ". سرواني "جهانگير قلي پسر ابراهيم بيگ" اردو ترجمه ايضاً "جهانگير قلي بيٹا ابراهيم بيگ کا" يعنې جهانگير قلي زوے د ابراهيم بيگ.

۷. مـط ډورن. پښتو نسخې "زوے د برلاس". ډورن حصه ۱ ص ۱۱۲ ".....مويد بيگ د سلطان محمود زوے سره د موره ئې، جهانگير قلي، ابراهيم بيگ، حوري برلاس او مبارک فرملي" الخ. سرواني (فارسي) چاپه نسخه ص ۱۱۸) "----مويد بيگ پسر سلطان (محمد دولدی) و جهانگير قلي پسر ابراهيم بيگ و مير بوزکا و ترتي بيگ و (پري برلاس) و مبارک فرلي" الخ. حاشيه ۴ په حواله د مخزن "مويد بيگ و پسر سلطان محمود و والدهٔ او و جهانگير قلي و ابراهيم بيگ و بوز کا و تردي بيگ". اردو ترجمه ص ۷۹ "... مويد بيگ د سلطان دلدي زوے او جهانگير قلي د ابراهيم بيگ زوے او مير بوزگا او ترتي بيگ او پري برلاس او مبارک فرملي". الخ.

۸. ن ب "له يوهٔ گنوار ئې" يعنې له يوهٔ بانډيسي ئې.

۹. د حاجي پور او پټنې (چې يو تر بله نزدې په ترتيب شمالاً جنوباً دي) نه جنوب مشرق او بهاگلپور نه شمال مغرب ته.

صـ ۱۱۲

قوسين ما د ډورن حصه ۱ ص ۱۱۳ او د سرواني فارسي نسخه ص ۱۱۹ "گزار کره" او اردو ترجمې ص ۸۰ "گرهـ" په بنا علاوه کړل.

۲. دلته "اجاجيل" په مخ بل ځائے "آچا خيل". سرواني فارسي نسخه ص ۱۱۹ اجه خيل

(اردو ترجمه ص ۸۰ "اجه خیل".

ص ۱۱۳

"اردو" یعني لښکر، فوځ.

ص ۱۱۴

ډورن حصه ۱ ص ۱۱۶ "جلال خان بن جلو سُور". بیا هم په دغې صفحه "جلال خان جلو" خو په ص ۱۱۸ "جلال جلو". دا نوم په ځنو نسخو او کتابونو کښې جلال جلو او جلال خان جلواني او ځنو کښې جلال خان بن جلو دے چې په وړومبي شکل (جلال خان جلو) کښې د اضافت ابني نه کار اخستے شوے دے.

۲. زما د وړاندې اصل پښتو عبارت "وئ نیو".

۳. ن ح جلد ۱ ص ۲۹٦ حاشیه ۲ په حواله د بانکي پور خدا بخش لائبریری د نسخې "هیبت خان نیازي و جلال خان جلو را به جماعۀ ابطال" الخ (دغه حاشیه ص ۲۹۷ ته اوړیدلې ده.). د ن ز او ن ح متن کښې دا عبارت نشته. سرواني (فارسي چاپه نسخه ص ۱۲۵ "هیبت خان نیازی وجلال خان جلو وسرمست خان سربنی وامراء دیگر جانب بهرائچ تعین نمود." او اردو ترجمه ص ۸۳ ایضاً سوا له دې چې "جلال جلو" په ځائے د "جلال خان جلو". یعني دا کمان او نور امیران ئې بهرائچ لورې ته مقرر کړل. ډورن حصه ۱ ص ۱۱٦ "هیبت خان نیازي او جلال خان جلو". زما د وړاندې پښتو نسخو کښې "هیبت خان او جلال خان چې نیازي وو" د یادو شوؤ اسنادؤ له رویه تصرف ضروري وګڼل او وکړے شو.

ص ۱۱۵

مط ن ب و حاشیه ۳ مذکوره په ص ۱۱۴. ن ا "نائب". ډورن حصه ۱ ص ۱۱۸ "نصیب". زمونږ د نسخې ن ا په ص ۱۲۲ هم "نیب" ښے.

۲. کړه او مانکپور دوه ځایونه دي لکه په تیرو نوټونو کښې ئې تشریح شوې ده خو د ډیر نزدیکت له قبله هم یو ځائے یادیږي او دلته هم لکه وړومبے یو ځائے یاد شوي دي د دوؤ ځایونو داسې په یوه نامه د یادیدو مثالونه ډیر دي. لکه زمونږ په پښتونخوا کښې د مندنو هوتے مردان، تورو مایار د خلیلو سنګو سربند، د داؤدزو کوچیان ګلبیله، د ګګیانو نحقی خرکی او نور.

۳. پښتو نسخې "مهارته چیر". ن ح جلد ۱ ص ۲۹٦ حاشیه تر ص ۲۹۷ "مهارته چیرو". ن ح جلد ۱ ص ۳۰۰ "راجه مهارته نام چروه" او بیا مهارته. ن ز ص ۱۰۹/۱ ایضاً ډورن حصه ۱ ص ۱۱٦ "مهارته چرو". سرواني چاپه نسخه ص ۱۲۹ "مهارته" حاشیه ٦ د یوې

بلې نسخې په حواله "مهارت". اردو ترجمه ص ۸۸ "د چروې زمیندار مهارت".
۴. سروانې فارسي چاپ نسخه "شیخ بهلول" حاشیه ۲ د یوې بلې نسخې په حواله "میرزا شیخ پهول" اردو ترجمه ص ۸۴ او ډورن ص ۱۱۲ "شیخ پهول".
۵، ۵ الف. دعوت، بلنه. ډوډۍ، جنګ مقابلې وغیره ته بلنه. حق لورې ته بلنه یعنې تبلیغ و ارشاد.
دِعوت : څوک په زوې والې (پسرې) بلل یا نومل. نسبي دعویٰ کول.
دعوات : دعا ګانې.
تکسیر : د نوم اعداد د تعویذ په خانو (کورونو) کښې داسې ویشل چې له هره اړخه وګڼل شي برابر وي. ډورن حصه ۱ ص ۱۱۲ "هغه داسې سړے وهٔ چې په علمیت او تقویٰ کښې لاثاني وهٔ.

ص ۱۱۲

دلته زما د وړاندې پښتو نسخو کښې هم نامې زمونږ د ص ۱۱۴ مطابق دي. "جلال خان د جلو" یا جلال خان جلو" یعنې جلال خان زوے د جلو.
۲. یعنې شهیا کښې یا ورته نزدې چې د چوسه او بکسر تر مینځه یو کلے دے خپله ډیره برپا کړه.
ن ا : "په میان کښې د چوسه او بکر کلي د ستها نام". ن ب "...د چوسه او بکر کلي د سهنیا". ډورن : .. د جوسه او شهیا کلي ترمینځه". ن ز ص ۱۰۸/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۲۹۸ "شیرخان ---- از بہار روان شد در نواحی چوسہ آمدہ مقابلہ کرد". حاشیه ۳ صفحه مذکوره ن ح په حواله د مخزن افغاني "مابین جوسہ و بکسر قریۂ شہیا دائرہ خود برپا کرد".
د دې جنګ د مقام د تعین دپاره د دیو ځایونو محل وقوع به د نظر د وړاندې ساتل سودمن وي. د بهار قصبه (چې بره لرې د شیر خان روانیدل او د چوسې خوا ته تلل او مقابله کول بیان شوې دي) د مونګیر نه جنوب مغرب ته او ترې نه پټنه (چې حاجي پور ته نزدې واقع ده) شمالاً شرقاً واقع ده. حاجي پور او پټنه دواړه د ګنګا سیند د پاسه یو لور بل لور په ترتیب شمالاً جنوباً واقع دي. د پټنې نه جنوباً څخو شرقاً رهتاس دے له پټنې څخو مشرق ته سهسرام هم دے چې له رهتاسه قطب ته پروت دے. له سهسرامه قطب ته د ګنګا په جنوبي غاړه بکسر دے. دغه ټول ځایونه په بهار کښې دي. مونګیر د مونګیر ضلعې صدر مقام دے. پټنه د پټنې ضلعې او هم د صوبې بهار صدر مقام دے. بهار قصبه د پټنې په ضلع کښې ده. حاجي پور د مظفر پور په ضلع کښې دے. سهسرام رهتاس یا رهتاس ګړه (مشهور تاریخي

کوهي قلا) بکسر او چوسه تول د شاه آباد په ضلع کښې دي. له بکسره د یز بی د تول هندوستان مشهور او د هندوانو په نزد مقدس بنار بنارس شرقاً څخو جنوبا (له سهسـ امه شرقاً) او د يو پي د مرزا پور ضلعي چنار قصبي او تاريخي قلا نه قطب ته د گنگا په غاړه پروت دے. د چوسه کلے بکسر ته ډير نزدې جنوب مغرب ته د گنگا په غاړه واقع دے. (وګورئ امپيريل ګزنټير جلد ۸ ص ۱۷۲ جلد ۱۰ ص ۱۸۶ او ص ۳۳۳، ۳۳۴ جلد ۱۳ ص ۷ جلد ۱۲ ص ۳۲۲، ۳۲۳ او جلد ۲۲ ص ۱۱۱، ۱۱۲) دغسې دا جنګ د پټنه او بنارس تر مينځه د گنگا په غاړه د بهار په زمکه شوے وۀ.

ص ۱۱۷

زما د وړاندې پښتو عبارت کښې "المشاور مؤتمن"
ن ب "امانت او ديانت"

ص ۱۱۹

سر تر پايه مسلح سپاهيان.

۲، ۲ الف. مط ن ز ص ۱۱۰/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۳۰۳، ۳۰۴ "---خواجه معظم را با یک کس دیگر فرستادند که مریم مکانی بیگم با دشاه رارفته برآرند" ډورن حصه ۱ ص ۱۲۲ هم "مريم مکاني" ن ا "عصمت مکاني بيگمے . ن ب "عصمت مکاني بيگم". وګورئ د ن ح جلد ۱ ص ۳۰۳ حاشيه ۳ تر ص ۳۰۴ فاضل محشي د اکبر نامې په بنا انتقاد کوي چې نعمت الله د خواجه معظم او مريم مکاني ذکر سهواً په خائے د بابا جلائر او تردي بيګ او بيګا بيګم کړے دے يعنې کوم دوه کسان چې ليږلے شوي وو بابا جلائر او تردي بيګ وو او د چا راوستل چې مقصود وو بيګا بيګم وه.

سرواني وائي چې هغه مغلې بيبياني او ښځې چې د همايون باچا د نمانځلے بي بي سره راوستلې شوې نوشير خان ئې په ليدو ډير ادب او درناوښت او د هر چا حيثيت سره ئې ورله سم د خوراک څښناک انتظام وکړو. د مغلو کورونه او زاهوزاد ئې د بيګمې سرا پردې څخه ديره کړل. بيګمه خو ئې پس له څو ورځو د حسين خان سرک سره رهتاس ته وليږله او نورو لره ئې خرڅ ورکړے اګرې ته رخصت کړل. (فارسي نسخه ص ۱۳۸، ۱۳۹ او اردو ترجمه ص ۹۱، ۹۲) او وګورئ زمونږ ص ۱۲۰ نوټ ۲ الف.

د همايون خور ګلبدن بيګم د وينا له رويه په ورکو شوؤ کښې چې هيڅ خبر ئې نۀ وۀ چې ډوبې شوے او يا څۀ شوے. د باچا درې بيبياني عقيقه بيګم، چاند بي بي او شاد بي بي هم شاملې وے. (زما د وړاندې د "همايون نامۀ ګلبدن بيګم" ايډيشن متن سره د اردو ترجمې

فارسي ص ۱۹۵ اردو ترجمه ص ٦٧، ٦٨ او د ن ح جلد ۱ ص ۳۰۴ حاشیه ۳ له رویه د مسزز بیورج د نسخې ص ۴۱، ۴۲.)

ص ۱۲۰

(۱) ډورن (حصه ۱ ص ۱۲۲، ۱۲۳) وائي چې شمس الدین محمد غزنوي هغه د ډوبیدو نه وژغورلو او د شمس الدین زامن د دې خدمت په بدل کښې په لویو مناصبو او مراتبو ورسیدل. دا مضمون دلته تاریخ خان جهاني (ن ز او ن ح) کښې نشته البته په مخ (ن ز ۱۱۲ او ن ح جلد ۱ ص ۳۱۰. ۳۱۱) کښې داسې راخي. "گفت نام من شمس الدین محمد ومولد من غزنی واز ملازمان میرزا کامران ام (واین شمس الدین اتکه پدر خان اعظم میرزا عزیز خان کوکه بود که بعد ازین به مرتبه عظمیٰ رسید)". | جنت آشیانی اورا به انواع التفات سرفراز فرموند." یعنې وې وئیل چې نوم مې شمس الدین محمد او زیږون ځائے مې غزنے دے. او د میرزا کامران له نوکرانو ځنې یم. (او د شمس الدین اتکه د خان اعظم میرزا عزیز خان کوکه پلار وۀ چې له دے پس لوئے مرتبے ته ورسید او) جنت آشیاني (همایون باچا) هغه په شان شان مهربانو ونمانځه." د ن ح فاضل محشي دلته دا انتقاد کوي. چې همایون باچا دوه خله اوبو کښې پریوتے وۀ. چې نظام ماشکي بچ کړے وۀ. او دغسې بله واقعه د بلگرام وه چې شمس الدین اتکه خان ژغورلے وۀ. دغه د بحث لاندې واقعه چې د شمس الدین محمد غزنوي په مرسته همایون له ډوبیدو بچ شوے وۀ. په تاریخ خان جهاني کښې د قنوج د جنگ په حال کښې ; ځي. او ترې وړومبے د چوسې د بیان په حال کښې (ن ز او ن ح جلد ۱ ص ۳۰۲) راځي چې یوۀ ماشکي همایون له سینده راوویست. د جوهر آفتابچي (تذکرة الواقعات اردو ترجمه ص ۴۹) د وینا له رویه په چوسه کښې د ماتې نه پس چې همایون په سیند کښې ولوید نو یو سړے سره له شنازه راغے او باچا لره ئې ورکړ. باچا وپوښتلو چې څۀ نومیږے. وئې وئیل چې نظام. باچا وے چې گوندے نظام الدین اولیاء به وي. گلبدن بیگم (همایون نامه فارسي متن ص ۱۹۸. ۱۹۹ اردو ترجمه ص ۷۰. ۷۱) وائي چې یو خادم غلام ماشکي وۀ چې څوک ئې نامه نظام او څوک سنبل یادوي. د هغۀ په مبنود له اوبو سلامت راووتو. جوهر وائي چې باچا ورته ووې چې زۀ به دې باچا کړم (ص ۴۹) او بیا وائي (ص ۵۰) دوو گنټو لره ئې باچا کړو. خو د گلبدن د وینا له رویه دوو ورځو له. بیا گلبدن وائي (فارسي متن ص ۱۹۹ اردو ترجمه ص ۷۱) "تا آنکه خبر رسید که شیر خان از لکهنو گذشت، حضرت از آگره کوچ کروند ومتوجه کنوج شدند ------ (ص ۲۰۱ فارسی وص ۷۳ اردو) بعد از آمدن به ۱۱ بور خبر رسید که برلب آب گنگ جنگ شده شکست بر لشکر حضرت افتاد - بارے شکر که حضرت یا برادران وخویشان از آن ورطه بصحت وسلامت برآمدند". یعنې "تر دې چې خبر راورسید چې شیر خان له لکهنو راتېر شو باچا هم له آگرې (دلته د "از آگره" توري

له متعلقه کرښې پاتې دي. خو هم په متعلق عبارت کښې په بله کرښه کښې راځي چې ېې خايه کيدل ئې ښکاره دي) کوچ کړے قنوج وته روان شو (ص ۲۰۱ فارسي و ص ۷۳ اردو) پس و لاهور ته د راتلو خبر راورسيد چې د ګنګا سيند په غاړه جنګ وشو او د باچا لښکر شکست وخوړ باري شکر چې دومره خو وشول...... چې باچا سره د ورور او خپلو خپلوانو له هغې بلا روغ جوړ راووت." د ورطه لفظي معني "غولئي"، "ګرداب" ده. او مصيبت او بلا ترې مراديدې شي. ګوندې د دغه لفظ له پکارولو مدعا د شکست له مصيبته او وربسې په اوبو کښې د ډوبيدو نه بچ کيدو ته اشاره وي. بلګرام چې بره په دغه نوټ کښې د ن.ح.د فاضل محشي د انتقاد په لړ کښې ياد شوے دے. د لکهنو قطب لويديز او د قنوج قطب څنګو خاتيز ته د يو.پي د هر دوني ضلعې په بلګرام تحصيل کښې له شاه آباد (ضلع هردوني) او د ضلعې له صدر مقامه هر دوني دواړو سهيل ته د ګنګا او رام ګنګا سيندونو ګډونځائے ته نزدے پروت دے. او ګوندې دغه دويمه واقعه د قنوج او بلګرام ترمينځه کيدلو له قبله چا د قنوج او چا د بلګرام واقعه ياده کړے وي.

(۲) مط ن ب. ن ا "بيګم". د "بيګم جيو" (يا بيګم جي) معني ده "بيګم صاحبه"

(۱۲) د جنګ نه درې مياشتې پس ئې په عزت او درناوي د خواص خان سره آګرې ته رخصت کړه. ن ز ۲/۱۱ و ن ح جلد ا ص ۳۰۱.

(۳) ډورن (حصه ا ص ۱۲۳) ايضاً. ن ز ۱/۱۰۹ "ماه فلان ۹۴۶ سته و اربعين و تسعمايه" او ن ح جلد ا ص ۳۰۱. ("ماه محرم ۹۴۶ ستة واربعين و تسعمايه") | | نه مراد زياتي عبارت د بانکي پور خدا بخش لائبريری د نسخې په بنا. فاضل محشي د اکبر نامې (بيورج) ص ۳۴۴ او جرنل آو دي رائل ايشياټک سوسائټي جلد۲ ص ۲۲۲ په حواله د چوسه د جنګ تاريخ ۹ صَفر ۹۴۶ مطابق ۲۷ جون ۱۵۳۹ ء او له دے وړومبے د شير شاه د سوانح نګار پروفيسر قانونګو په حواله ۲۷ جون ۱۵۳۹ ء ليکي.

(۴) سرواني فارسي چاپه نسخه ص ۱۴۴ "جانب ګجرات و مندو" اردو ترجمه ص ۹۵. "مندو اور گجرات کی طرف"

صـ ۱۲۱

(۱) ن ا و ن ب "سارنګ" سرواني (چاپ فارسي متن ص ۱۴۵ او اردو ترجمه ص ۹۵) مندو اجين و سارنګپور" مندو يعنې مانډو، اجين او سارنګپور دا ټول ځايونه په مالوه کښې دي. د مانډو شمال قدرې مشرق ته اندور، شمال ته اجين او بيا ترې نور شمال ته سارنګپور دے

(۲) سرواني (فارسي ص ۱۴۵ او بيا ص ۱۷۳ اردو ترجمه ص ۹۵ او بيا ص ۱۱۳) په هم

مضمون عبارت کښې نامې داسې دي. منـدو اجين. سارنګپور، رائې سين. چنديري، ستوانيس، بجاکره (اردو بجاکړهه او بيا بجا ګړهه) مهيار (د اردو مهيرا او مهړے) متعلق عبارت پـه وروستي خـائـے داسې ختميږي. "-------ودر بجاکره ومهيار راجه بهوپال بود" (اردو ترجمه "------مهيرااو. کړمين راجه بهوپال تهاـ" يعني ......په مهيار او بجاکره کښې راجه بهوپال وۀ." پـه وروستي خائـے کښې د ملو خان، دويم د سکندر او دريم د راجـه پرتاب شاه د مقبوضاتو د ذکر نـه پس داسې ختميږي: چهارم بهوپال بود که ولايت بجاکره و مهيار در تصرف او بود". يعني څلورم بهوپال وۀ چې د بجاکره و مهيار ولايت ئې په قبضه کښې وۀ."

د اردو ترجمې مطلب له متنه سم دے.

ډورن (حصه ۱ ص ۱۲۴): ماندو اجين، سارنګپور، رائې سين، چنديري، بهمګر، مهور، (يا ماهور) متعلق عبارت داسې ختميږي: "........پيمګر او مهور (يا ماهور) د بهوپال په قبضه کښې وو.

ن د بهوپال نه مراد د وسطي هند (د مالوې برخې) مشهور رياست بهوپال يا ئې ترې صدر مقام نۀ دے. بلکه دا د سړي نوم دے. دلته ترې بهوپال رياست يا ښهر څکه هم مراد نۀ شي کېدے چې مونږ د شپاړسمې صدی ميلادي واقعات څيرو او د بهوپال ښهر، اسلام نګر ښهر او د بهوپال رياست بنياد دوست محمد خان ميرزي خيل ورکزي *(په امپيريل ګزيټيئر کښې ميرزي خيل بارکزے ليکلي دي چې صحيح نۀ دي. امپيريل ګزيټيئر د دوست محمد خان وطن تيراه ښيئ چې د اپريدو، ورکزو او څمکنو ملک دے. او ميرزي خيل د دولت زيو ورکزيو څانګه ده)* په اتلسمه صدی ميلادي کښې ايښے وۀ. وروستو د رياست صدر مقام اسلام نګر وۀ. خو فيض محمد خان د خپلې نوابی په زمانه کښې بهوپال صدر مقام وګرځولو. او د دغه ښهر له نسبته رياست هم په دغې نامې وبلل شو. (امپيريل ګزيټيئر جلد۸ ص۱۲۵. ۱۳۵).

د منډو، اجين، سارنګپور نښاندهي مونږ وکړه. د چنديري محل وقوع هم په تيرو نوټونو کښې راغلے دے. د مالوې له توابعو وۀ. ستواس چې زمونږ په پښتو نسخو کښې ستوانش او سرواني کښې ستوانيس دے د پيرنګوالې د اندرور رياست دينماور ضلعې صدر مقام وۀ چې هم د مالوې ملک کښې راځي. (امپيريل ګزيټيئر جلد ۱۷ ص ۱۳۴و ۱۳۵ او جلد ۱۹ ص ۲۴. ۲۵) *[بايد چې نيماور نۀ خو د اندورينما د ضلعې(چې ذکر ئې راتلونکے دے) ونه رسي. بې نيمار ضلعې سره ګډه کړل شي. او هر څو کۀ درې واړه ضلعې سره نزدې پرتې دي فرق ئې وشي.]*

رائې سين د مالوې مشهوره تاريخي قصبه او قلا د بهوپال نه شمال مشرق ته واقع ده

او د بهوپال ریاست د شرقي نظامت صدر مقام وۀ. (امپیریل گزیټیئر جلد ۲۱ ص ۶۲و ۶۳).

بیجانګر او بهار (پښتو نسخې) : کۀ ترې د جنوبي هند (مدراس و جیانګر او د جیانګرم یا وزیانګرم) مراد وي نو د بهار د هرې حصې نه د زرو میلو نه هم زیاته فاصله لري. او تقریباً هم دغه حال د جنوبي هند (بمبئ) د بیجاپور هم دے. بیا بهار خو له ډیرې مودې راهسې د مسلمانانو په تصرف کښې وۀ. پرته له دې د دغه علاقو یا خایونو دغو نورو علاقو او خایونو سره چې د مالوې ملک سره تعلق لري هډو څۀ تړون نشي لیدلے او تر مینځه ئې ډیر زیات مسافت دے. دغسې یو.پي د همیرپور ضلعې بجې نګر ساګر د خپل محل وقوع او نوعیت (او بتل یا تالاب کیدو) له قبله هم باید چې له بحثه خارج وي.

بجاکره: بجې ګړهـ یا بجا ګړهـ یو کوټ د آګرې په جنوب مغرب کښې د راجهستان د بیانې علاقه کښې شته. خو غالباً (محل وقوع ئې د نظر د وړاندې) دغه خانې ترې مراد نۀ دے.

بجاګړهـ کهرګون د نربدا په شمال کښې د اندور په نمار ضلع کښې او لکه د نورو پور ته یادو شوو خایونو او علاقو هم د مالوې په خطه کښې راځي.

مهیار) سرواني فارسي متن

مهیره، مهره) سرواني اردو ترجمه

مهور، ماهور) ډورن

مهیار، مهیره، مهره لکه چې په سرواني کښې راغلي دي ما ونۀ موندل. میهر د سند د لړکانې ضلعې یو ذیلي برخه ده. (امپیریل ګزیټیئر جلد ۱۷ ص ۲۶۸) میهري د مشرقي بنګال یو رود دے. (امپیریل ګزیټیئر جلد ۱۳ ص ۱۱۷) او دا نومونه زمونږ د وړاندې خطې سره تړون نۀ لري.

د مالوې نه شمال مشرق ته د بوندیلکنډ (د بوندیله راجپوتو ملک چې پکښې اورچهه (یا اوندچهه) او پنه مشهور او لوئے ریاستونه دي) علاقه او د هغې مشرق او جنوب ته د بګیلکنډ (د بګهیله یا سولنکي راجپوتو ملک. سولنکیان وړومبے په ګجرات قابض وو. چې ګجرات مسلمانانو واخست نو دوي نمرخاتۀ لورې ته لیږده وکړه او په هغه مزکه چې د دوي له نسبته بګیلکنډ وبلل شوه قابض او حکمران شول. بهټه د دوي مشهور ریاست وۀ چې بیا وروستو په ریوه مشهور شو. او تر اوسه هم په دغه نامه یادیږي.) علاقه ده. د بوندیلکنډ د اوچهه (یا اوندچهه) ریاست نه سهیل خاتیز ته یو وړوکے ریاست بجاور او د بجاور مشرق او شمال ته د پنه ریاست او د پنه نه مشرق او شمال ته یو بل وړوکے ریاست اجے ګړهـ دے. د اجے ګړهـ نه مشرق ته یو بل وړوکے ریاست مئ هر دے. (امپیریل ګزیټیئر

جلد۸ ص ۱۸۸ تر ۱۹۱ او جلد ۱۷ ص ۲۷تر ۲۹.)

ماهور په جنوبي برار کښې د حيدرآباد (دکن) د عادل ضلعې په مغرب څخو شمال کښې بو کوټ ځه موده ورسره د ترلي علاقې صدر مقام وۀ چې د بجا کړهـ کهر کون نه ني رخ جنوب مشرق تـه دے (امپيريل گزيټيير جلد ۷ ص ۲٦۷ جلد ۵ ص ۲۲ تر ۲۴ او د الفنستن تاريخ هند سره لګيدلي نقشه).

پيمکر پيم کړهـ؟ بهيم کړهـ؟ نۀ خو د حيدرآباد (دکن) د نظام آباد د ضلعې بيمکل تعلقه او نۀ د بمبی صوبې د احمد نګر ضلعې بهين ګړهـ د نظر د وړاندې خطې سره د ځپل محل وقوع له رويه تعلق لرونکې ليدۀ شي

(۳) سرواني (فارسي ص ۱۴٦ اردو ترجمه ص ۹٦) مندو يعني ماندو

(۴) برے فتح. کاميابي. اصل پښتو نسخې "صوبې"

(۵) ن ۱ "له ډيره تکبره" ن ب "له ډيره تجبره او تکبره" اقتباس د مخزن افغاني ن ح جلد ۱ ص ۳۰۸ حاشيه ۱ .... از غايت احتشام و تجبر جواب داد"۔

ص ۱۲۲

سرواني فارسي ص ۱۵۰ اردو ترجمه ص ۹۸ "مسند عالي اعظم همايون سرواني و مسند عالي عيسی خان سرواني ککبور" (اردو ترجمه کهکور).

سرواني فارسي ص ۱۵۰ و اردو ترجمه ص ۹۸ "بلند خان و سرمست خان و سيف خان سرواني

۳. سرواني فارسي ص ۱۵۰ و اردو ترجمه ص ۹۸ "بجليخان سرواني وغيره."

ډورن حصه ۱ ص ۱۲٦ "مزيب ګور" و ص ۱۲۸ "برمزيد ګور". سرواني فارسي ص ۱۵۷، ۱٦۴ "برمزيد ګور" اردو ترجمه ص ۱۰۲، ۱۰۷ مير فريد ګور ص ۱۰۳ "فريد ګور". تذکره الواقعات و جوهر آفتابچي اردو ترجمه ص ۴۹، ٦۱ د برمزيد ګور د نامې نه اګاهو تاسو د قطب خان نيب نامه وليده. دې نه وړومبے ډورن حصه ۱ ص ۱۱۸ (وګورئ زمونږ ص ۱۱۵ نوټ ۱) او دلته هم د نائب يا نيب په ځائے نصيب کښلي دي.

ص ۱۲۳

د دې صفحې له آغازه لږ وړومبے نه واخلئ تر دې ځايه زما په مخکښې په پښتو نسخو او ځنو نورو کتابونو کښې لکه چې دا مضمون راغلے دے يو څو اختلافات نې د غور قابل دي.

(۱) زمونږ د نسخې ۱۲۲ کرښې (چاپي) ۱۸، ۱۹ "..... مرزا هندال نې په کين

طرف او مرزا عسکري ئې په ښي لور تعين کړ." ډورن حصه ۱ ص ۱۲۶ "ښيے طرف مرزا هندال ته وسپارلے شو او کين مرزا عسکري ته."

(ب) زمونږ د نسخې د ص ۱۲۲ دوه وروستی (چاپي) کرښې "خواص خان مقدمه د همايون بادشاه ماته کړه اما مرزا عسکري فوځ د ميمنې د پښتنو له خايه هسک کړو." ډورن حصه ۱ ص ۱۲۶ ايضاً.

۱ او ب چې مقابله کړو نو معلوميږي چې ب کښې دواړه متفق دي او اختلاف په ۱ کښې دے. کۀ مرزا عسکري د پښتنو ميمنه (ښيے اړخ) مات کړے وۀ نو مطلب دا شو چې (لکه ډورن په ۱ کښې ليکي) د همايون ميسره (کين اړخ) مرزا عسکري ته سپارلې شوې وه.

خو جوهر آفتابچي اردو ترجمه تذکرة الواقعات ص ۵۲ ليکي "مرزا هندال په دښمن بړے بيامونند خو مرزا عسکري چې خواص خان سره ئې مقابله وه ماتې وخوړه." اوس نو کۀ د پښتنو ميمنه له ځايه هسکه کړلې شوې وي او دغه توره مرزا کړې وه نو مطلب دا شو چې مرزا هندال د همايون د ميسرې کماندار وۀ. زمونږ د پښتو نسخې ص ۱۲۳ کرښې ۶،۵،۴ (چاپي) وائي چې د شير شاه د ميسرې سردار[ان] (عادل خان او قطب خان نيب) د همايون ميمنه چې مرزا عسکري ئې سردار وۀ ماته کړه. ډورن حصه ۱ ص ۱۲۶ وائي چې د شير شاه د ميسرې سردارانو (عادل خان او قطب خان نيب) د همايون ميسره چې مرزا عسکري ئې سردار وۀ ماته کړه خو عام طور سره به د يوې ميسرې مقابله د بلې ميمنې سره کيده.

(ج) زمونږ پښتو نسخه ص ۱۲۳ کرښې ۳،۲ (چاپي) "شير شاه شکست د خپلې ميمنې وليد." ډورن حصه ۱ ص ۱۲۶ شير شاه چې د خپلې ميسرې ماتې وليده." حال دا چې بره (ب) ليکي چې "مرزا عسکري د افغانانو ميمنه درهم برهم کړه." سرواني فارسي ص ۱۵۴ "چون شير شاه ديد که ميمنه او شکست يافت". اردو ترجمه ص ۱۰۰. او بيا ص ۱۵۴ "وميسره شير خان که پسر او عادل خان وقطب خان نائب بود ((از)) فوج مغل که روبروے ايشان بود شکست خوردہ". الخ.

يعنې د شير خان ميسره چې زوے ئې عادل خان او قطب خان نائب وۀ. (له) فوځه د مغل چې د هغوي مخامخ وۀ شکست خوړلے" الخ. برغدې ليندې د محشي له طرفه دي. او هغۀ په يوې نسخې کښې هم لفظ "از" نۀ دے موندلے. فارسي عبارت کښې عادل خان او قطب خان نيب په سبب د ميسرې د سرداری په طور د مجاز مرسل د ميسرې دپاره راوړلي شوي دي. او د عبارت مطلب دا دے چې "فوج مغل روبروے ميسرۀ شير

خان کہ تحت پسرش عادل خان وقطب خان نائب بود شکست خوردہ" يعني چې د مغلو فوځ د شير خان د ميسرې په مخکښې چې د زوي عادل خان او قطب خان نيب لاندې وه شکست وخوړ مظهر علي خان ولا د دې خائے ترجمه داسې کوي: "اور شیر خان کی بائیں طرف عادل خان جو اس کا بیٹا اور قطب خان نیب تھا فوج جو مغل کی اس کے روبرو تھی وہ بھی شکست پا کر" الـخ. (ص ۱٦) يعني او د شير خان کين لورې ته عادل خان زوے ئې او قطب خان نيب وۀ فوځ د مغل ئې چې مخامخ وۀ هغه هم شکست خوړلے" الخ. لکه چې تاسو وليدل له دغه خايه وړومبے سرواني د شير شاه د ميمنې د شکست ذکر کوي. (چون شیر خان دید کہ میمنۂ او شکست یافت) نو کۀ د فارسي چاپي نسخې د فاضل محشي دغه اضافه مونږ ومنو او لکه هغۀ ته چې د عبارت مطلب ښکاري مونږ ئې هم وګڼو نو بيا خو د شير شاه ميمنې او ميسرې دواړو شکست خوړلے وۀ. او وګورئ د فارسي چاپي نسخې ص ۱۵۴ حاشيه ۴ چې د مخزن دا عبارت نقل کوي: "میسرۂ شیر شاہ کہ قائد آن عادل خان بود بہ اتفاق قطب خان میسرہ ہمایون بادشاہ را کہ مرزا عسکری سردارش بود منہزم ساختہ" الخ يعني او د شير شاه ميسرې چې عادل خان زوے ئې د هغې سردار وۀ د قطب خان په اتفاق د همايون ميسره چې سردار ئې مرزا عسکري وۀ ماته کړه. الخ. وګورئ بره (ب) زمونږ د نسخې د ص ۱۲۳ ۴،۵،٦، کرښې او ورسره په مقابله کښې ئې د ډورن ترجمه. د مخزن دغه عبارت د ډورن د ترجمې مرسته کوي. سرواني نور تفصيلات خو لکه چې تاسو وليدل ورکوي خو د شهزادګانو يعني د همايون باچا د ورونو مرزا هندال او مرزا عسکري نامې نۀ اخلي.

(د) سرواني او ډورن دواړه د "قطب خان لودي" په خائے "قطب خان لودي شاهوخيل" ليکي.

(ه) ډورن، دويم قطب خان چې يو خو نورو خايونو کښې ئې د نائب يا نيب په خائے نصيب ليکلے دے. دلته ئې صرف قطب خان ياد کړے دے.

(و) تاريخ خان جهاني ن ح ص ۳۹ (دا خائے ن ز کښې نشته د ن ح محشي دا زياتي عبارت د بانکي پور خدا بخش لائبريرۍ د نسخو په بنا علاوه کړے دے). "جرانغار بادشاہی جلال خان را کہ دست راست شیر شاہ بود راندہ بر دند و محاربہ عظیم روئے داد و دو نیزہ در دست جنت آشیانی شکست۔ چون شیر شاہ دید کہ افواج بادشاہی بسیار غالب اند خود را از غول راندہ آمدہ فوج مردم مرزا کامران را برداشتہ بقلب رسید۔ درین اثنا محاربہ شدید واقع شد۔ و جنت آشیانی بہ نفس نفیس ترددات بسیار کردند اما چون ارادہ چنین بود بجائے نہ رسید وشکست افتاد۔" يعني د بادشاه د ميسرې عالمو جلال خان چې د شير شاه ميمنه وه په مخه کړو او لوے جنګ وشو او د جنت آشياني په لاس کښې دوه نيزې ماتې شوے. چې شير شاه

ولیدل چې بادشاهي فوځونو ډیره غلبه وکړه نو پخپله ئې د لښکر له مینځه خان راخطا کړے راورسید د مرزا کامران د عالمو فوځ ئې له خایه هسک کړے د فوځ مینځ ته ورسید. په دا مینځ کښې طرفین سخت جنګ وشو. او جنت آشیاني په خپل خان ډیر مبنودونه وکړل. خو هر کله چې قضا دغه شان وه بې خایه شول او شکست ئې وخوړ.دغسې سرواني هم د همایون د مړانې او ټینګار ستائنه کوي.

(ز) زمونږ په پښتو نسخو کښې د پښتنو په میمنه د مغلو د زور راوړو د ذکر په لړ کښې کښلي شوي دي چې د میمنې فوځ له خایه هسک کړے شو خو هیچا پښه پستنه نه کړه. خو د ډورن د ترجمې له رویه څلور تنه لکه د غرۀ په خپل خائے ایسار وو د شیر خان زوے جلال، میان ایوب ګکهور سرواني، محمد ګکهور سرواني او غازي خان مهیلي سلاحدار، سرواني فارسي متن ص ۱۵۳، ۱۵۴ جلال خان د شیر شاه زوے، میان ایوب ککبور سروالي ، محمد خان ککبور او غازي ((خان)) محلي یادوي چې میدان ئې پرې نه ښود. یعنې د سرواني په نزد دریو تنو د برغدو لیندو ترمینځه نوم د سرواني د فارسي نسخې د محشي له طرفه اضافه ده ځکه چې د هغوي په مخکښې نسخو کښې ''چہار کس میدان نگزاشتند'' الفاظ دي. په عکس د دې اردو ترجمه والې ''مگر تین شخص نے میدان نہ چھوڑا'' (ص ۱۰۰)

۲. اصل پښتو عبارت ''او نظامي چې په'' الخ د نظامي نه مراد ګونډې د طبقات اکبري مؤلف نظام الدین وي.

۳. ډورن حصه ۱ ص ۱۲۷ تاریخ.

۴. ن ز ص ۲/۱۱۱ و ن ح جلد ۱ ص ۳۰۹ ''شیخ ابوالفضل در تاریخ اکبر نامه و مؤرخ تاریخ شیر شاهي (عباس سرواني) ''چنین ایراد مینماید کہ آن روز (میعاد) جنگ مقرر بود''۔ لیندې د بانکي پور خدا بخش لائبریری د نسخې په بنا علاوه کړے شوے.

۵. ن ب ''خوخولو''. د وچت خاے له رعایته د ن ا متبادل لفظ (خیژولو) زیات موزون دے.

۶ وګورئ ص ۱۲۰ نوټ ۱.

۷. د قنوج دغه جنګ په محرم ۹۴۷ هجري مئ ۱۵۴۰ ء کښې شوے وۀ. الفنستن هجري او عیسوي تاریخونه په ترتیب لسم او شپاړسم لیکلي دي. ن ز ص ۱/۱۱۲ ''رزو عاشوره ۹۴۴ هـ''. ن ح جلد ۱ ص ۱۱۳ ''روز عاشوره ۹۷۴ هـ'' ن ا حاشیه ص ۱۲۴ ''واقعه روز عاشوره ۹۴۴ هـ.''.

دغه خوب په لږ فرق (بې د نورو انبيائے کرام عليهم السلام او د پير له ذکره) ن ز ص ۱۱۰/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۳۰۳ د چوسې د جنګ په لړ کښې راوړي. او هغه خوب چې د پښتو ترجمې نسخو (وګورئ د دې کتاب ص ۱۱۵) او ډورن حصه ۱ ص ۱۱۷ کښې د چوسې د جنګ په ضمن کښې بيان شوے دے چې تاريخ خان جهاني (ن ز ص ۱۱۱/۲، ۱۱۲/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۳۰۹ـ ۳۱۰ کښې د جنګ قنوج په لړ کښې راځي.

ص ۱۲۴

سرواني (فارسي چاپه نسخه ص ۱۵۶ اردو ترجمه ص ۱۰۲) د شجاعت خان د دې زوي نامه محمد خان ليکي.

۲. د پښتو ترجمې عبارت "... ميان مجد الدين سرهندي ته دا وئيل چې لوے امرايان د همايون به دا پوهېدل چې بس له ما " الخ داسې د عبارت معنې ګډې وډې دي ما د ډورن د ترجمې په رڼا کښې تصرف وکړو. ن ز او ن ح کښې دغه عبارت نشته. د سرواني فارسي ص ۱۵۷ الفاظ دا دي "ـــــ وچون درسرهندآمد بامجدالدين سرهندى نيز همين طريق فرمود" يعنې چې سرهند ته راغے نو مجد الدين سرهندي ته ئې هم دغه شان فرمائيل. (اردو ترجمه ص ۱۰۳).

۳، ۳ الف. ن ا "اضافت ئې ورکړ". ن ب "پنجهزاري اضافه ئې ورکړه."

اصل پښتو عبارت "خبر شه چې".

ص ۱۲۵

سرواني فارسي ص ۱۶۰، ۱۶۱ اردو ترجمه ص ۱۰۵ کښې هم دا نامه محمد قاسم ده خو د اردو ترجمې په حاشيه کښې ابوالقاسم ده.

۲. سرواني فارسي ص ۱۶۱ اردو ترجمه ص ۱۰۶ "مولانا محمد بنوري و عبدالمؤمن داماد او". (مولانا محمد بنورى اورعبدالمؤمن جواس كاداماد تها) يعنې مولانا محمد بنوري او عبدالمؤمن د هغهٔ زوم. ډورن دا روايت نهٔ لري. پښتو نسخه عبدالمؤمن د مير دائم زوم يادوي او مولانا محمد بنوري دائم محمد بنوري يادوي. ګوندې مولانا محمد بنوري، دائم محمد بنوري او مير دائم هم يو سړے وي.

۳. ډورن حصه ۱ ص ۰ "چوپره". سرواني فارسي ص ۱۶۴ "چوباره". حاشيه ۱ د يوې بلې نسخې په حواله "چوبنده" د يوې بلې په حواله "خوماره" اردو ترجمه ص ۱۰۷ "بلندے".

۴. خوشاب (چې اکثر په بهيره خوشاب يادېږي) د مغربي پنجاب د شاه پور (سرګودهې) په ضلع کښې د يوهٔ تحصيل او هم د قصبې چې د دغه تحصيل صدر مقام دے نامه ده. قصبه د

جهلم د سیند په غاړه ترې خاتیز ته پرته ده. د ضلعې له صدر مقامه سرګودهې قطب لویدیز او د میانوالي ضلعې له صدر مقامه میا نوالي سهیل خاتیز او له جهلم ښاره (ضلع جهلم) سهیل لویدیز ته ده.

ص ۱۲۶

مط ډورن حصه ۱ ص ۰ ن ۱" په خپل پاپوش کیږدم". ن ب حذف کړے دے سرواني فارسي ص ۱۲۵ ---- "من ذات خود را بداغ خواهم رسانید". یعنې زۀ به خپل خان وداغم (اردو ترجمه ص ۱۰۸).

۲ ډورن حصه ۱ ص ۱۳۰ د ګکهړ هجه داسې کوې چې کاکر یا کاکړ لوستے شي. کاکړ د پښتنو مشهوره قبیله ده. ګکهړ اکثر د مغربي پنجاب په جهلم ضلع او څۀ لږ د صوبه سرحد د هزارې ضلعې په هري پور تحصیل کښې اباد دي. چې مشهوره قصبه ئې خان پور ده.

۳. د رهتاس دغه کوټ د جهلم په ضلع کښې د جهلم له ښاره لویدیز څخو قطب ته دے د همایون د پاره کولو نه پس ګکهړانو په قابو کښې د ساتلو په غرض شیر شاه په ۱۵۴۲ ء (۹۴۹ هجري) کښې جوړه کړې وه. دور ئې دوه نیم میله، دیوالونه ئې دیرش فټه غټ او له دیرشو تر پنځوسو وچت دي او ۶۷ برجونه لري. (امپیریل ګزټیر جلد ۲۱ ص ۲۲۱) د امپیریل ګزټیر لیکونکے وائي چې په موجوده کرنسي (سکه) کښې په دې قلا اوولس لکه روپۍ خرخ راغلے وۀ. یعنې په ۱۹۰۸ ء کښې د روپۍ د قوت خرید له رویه. د ګکهړانو په قابو کښې د ساتلو نه علاوه دغه کوټ د مغلو په هندوستان د دوباره حملې کولو په لاره کښې هم یو لوے سنګر وۀ.

ص ۱۲۷

ډورن حصه ۱ ص ۱ ۱ "په حوالي د تته" الخ تهتهه خو په سندهـ کښې د کراچې جنوب مشرق ته یو ډیر مشهور ځائے دے خو دیو واقعاتو سره تعلق لرونکې نۀ شي لیدے د "آب بهت" نه مراد د جهلم سیند دے.

۲. وګورئ زمونږ ص ۱۲۰ نوټ ۲ او ۲ الف.

۳. وګورئ زمونږ ص ۱۲۱ نوټ ۲.

ص ۱۲۸

ډورن حصه ۱ ص ۱۳۲ سرواني فارسي ص ۱۷۵، ۱۷۶ د عبارت مفهوم دا دے چې د کوټ په تړلو پښتنو د ملو خان حیرانتیا او وهم لا زیات کړ

۲. وګورئ ن ز ۱۱۴/۲۰۱ او ن ح جلد ۱ ص ۳۱۸ تر ۳۲۰ د دیو نسخو د بیان له رویه د

مالوې حاکم ملو خان د مالوې د سلطانانو له نوکرانو څخه وه. او د فوځ او خزانې د پریوانی له قبله ئې خان په قادر شاه خطابولے او خطبه او سکه ئې هم په خپله نامه جارې کړې وه. او وګورئ سرواني فارسي ص ۱۴۵، ۱۷۳ او اردو ترجمه ص ۹۵، ۱۱۳

۳. ستواس او هنډیه. ستواس دپاره وګورئ ص ۱۲۱ نوټ ۲. هنډیه د نیماور او ستواس سهیل خاتیز ته او د بهوپال په سهیل کښې د سي پي د هرشنګ آباد نومے ښار جنوب ته د ګونډواني په شمال مغربي برید پرته ده. (وګورئ زمونږ ص ۵۷ نوټ ۵).

۴. ګونډې غرشین وي چې د پښتنو مشهوره قبیله ده.

۵. رنتهمبور: وړومبے پرې مفصل نوټ لیکلے شوے دے.

۶ ډورن حصه ۱ ص ۱۳۳ ګونیکرن. سرواني فارسي ص ۱۸۰ "کوبهکرن" حاشیه د مخزن په حواله "کونبکرن" اردو ترجمه ص ۱۱۶ "ګوبهکرن" حاشیه "کولي کرن".

۷. ډورن ګړه یا ګره. د بهوپال او رائے سین مشرق ته د نربدا سیند په غاړه پرته ده. (وګورئ زمونږ ص ۵۷ نوټ ۵.)

ص ۱۲۹

مط سرواني اردو ترجمه ص ۱۱۷. کتهه ګرهه. فارسي ص ۱۸۱ "کهتکره" حاشیه ۶ د مخزن په حواله "کنکره" پښتو نسخې "کنګړه". ډورن حصه ۱ ص ۱۳۴ "کنګړه" یا "کانګړه".

۲. مط ډورن حصه ۱ ص ۱۳۴ (او وګورئ سرواني فارسي ص ۱۸۳-۱۸۵) اردو ترجمه ص ۱۱۸ پښتو نسخې "ملو خانه" او "ملو خان".

۲، ۲ الف. سرواني فارسي ص ۱۸۳ "قبوله". اردو ترجمه ص ۱۱۸ "قبوله" (قبولے میں) در قبوله. قبوله کښې. په ځائے د "کوټ قبوله" او ن ب "لکي" په ځائے د "لکهي خنګل" سرواني فارسي ص ۱۸۴ اردو ترجمه ص ۱۱۸ "۔۔۔وتمام ملک را جنگل وویران ساختہ بود۔" او "سارے ملک کو جنگل اور ویران کر دیا تھا۔" (ټول ملک ئې ځنګل او وران کړے وه.) حاشیه ۱ د فارسي نسخې د مخزن په حواله "واین فتح خان از کوٹ قبولہ بود۔ وولایت لکھی جنگل را بتمام ویران ساختہ از لاہور تا دہلی شوارع عام را متزلزل می داشت". یعنې او فتح خان د کوټ قبوله وه (چې) د لکهي ځنګل ټول ملک ئې وران کړے وه او له لاهور تر دهلي ئې په عامو لارو اړے ګړے ګډ کړے وه.

ص ۱۳۰

سرواني فارسي ص ۱۸۵ "کهردر و فتحپور" حاشیه ۲ په حواله د مخزن فتحپور و کهرور" اردو ترجمه ص ۱۱۸ "ګهرور اور فتح پور."

۲. دورن حصه ۱ ص ۱۳۵ "نَیو یُو" (انګریزي کښې ورارهٔ یا خوریي ته وائي. سرواني فارسي ص ۱۸۵ "شیخ ابراهیم فرزند قطب عالم شیخ فرید" اردو ترجمه ص ۱۱۸ "شیخ ابراہیم جو قطب عالم شیخ فرید کی اولاد سے تھا". یعني شیخ ابراهیم چې د قطب عالم شیخ فرید له اولاده وهٔ.

۳. د پښتو ترجمې عبارت کښې "مجدد".

۴. دلته په پښتو ترجمه کښې هم "بلوخو" دے.

۵. یعنې اهل قلعه (د کوټ خلقو) خپل اهل و عیال پخپله ووژل.

۶. بخشو لنګاه ولګید میدو بلوڅ ئې راوست. سرواني فارسي ص ۱۸۵ "مندو بلوچ" حاشیه ۴. د یوې بلې نسخې په حواله "بندو بلوچ" او د مخزن په حواله "بلوچ میدو" اردو ترجمه ص ۱۱۸ "مندوار بلوچ" ص ۱۱۹ "مندواور بلوچ" د دې وروستي شکل مطلب به په اردو کښې مندو او بلوچ وي.

۷. ن ا "بلوخانو" ن ب "بلوخو".

۸. مط ن ب. ن ا "به تلیږي".

۹. زما د وړاندې پښتو نسخو کښې "د اور مرانے وکړو.

ص ۱۳۲

ن ز ص ۱۱۶/۱ ن ح جلد ۱ ص ۳۲۵، ۳۲۶ "یوه د مالدیو لور ئې پاتر بازو او یو هلک ئې بازیګرو ته" الخ او د ن ح جلد ۱ ص ۳۲۶ حاشیه ۱ "د پورن مل یوه وړه جلۍ او دوه هلکان او یوه ښځه چې د پورن مل د سکه ورور وو رقاصانو ته ئې حواله کړل." الخ سرواني فارسي ص ۱۹۲ اردو ترجمه ص ۱۲۲ "د پورن مل جیلۍ ئې بازیګرو ته ورکړه چې په بازارونو کښې پرې تماشه کړي او هغه درې هلکان ئې حکم وکړو چې خصیان دې کړل شي. چې د هغه ظالم نسل ورک شي." دغه هلکان اګاهو د پورن مل وریرونه یاد شوي دي. (سه طفل از برادرزادګان او". "تین بھتیجے اس کے".

په زړو مؤرخینو کښې څنو د شیر شاه د پورن مل سره د معاهدې ماتولو واقعه څهٔ په داسې ناقص او غلط رنګ کښې پیش کړې ده. چې ترې غلط فهمي پیدا کیږي. او هغو لیکوالو ته چې د اسلام او مسلمانانو د معاندانه انتقاد دپاره په لټون کښې وي یوه ښه موقع، د هغوي په نزد میسره شوې ده. او د شیر شاه ئې د بدعهدۍ او د قیدیانو د وژلو دپاره د ګرمولو زیار کاږلے دے.

په زړو مؤرخانو کښې بدایوني لیکي چې "هم دغه کال د رائے سین مقدم پورن مل چندیرې ولوټله او د هغه ځائے اکثر وګړے ئې ووژلو او دوه زره هندوې او مسلمانانې ئې د

هغه خائے په خپل حرم کښې داخلې کړے. چې شیر شاه له دې فساده خبر شو نو د برق او باد په خیر د رائسے سین کوټ ته ورسید او ګیر ئې کړو چې د دې ګیرونې د تاریخ مادہ دہ "قیام بار ګه باشد مبارک" شیر شاه کوټ فتح نه کړے شو نو له دې قبله ئې د شهزاده عادل خان او قطب خان په وسیله په قول اقرار پورن مل راوغوښت او په ډیر عزت ئې په خپل لښکر کښې ایسار کړو سل اسونه کافي نغدې روپۍ او خلعت ئې ورله په انعام کښې ورکړ. پسته شیر شاه قول قرار مات کړ او له میر سید رفیع الدین صفوي ئې فتوي واخسته او پورنمل ئې سره د خپله اهل و عیاله د هاتیانو د پښو لاندې دل کړ په دې سانحه کښې د پورنمل په لسو زرو هندوانو کښې د یوۀ خان هم پاتې نۀ شو او ټول زنده سره د زن بچه ووژل شول. او خنو پخپله خان په اور کښې وسوو (اردو ترجمه ص ۲۵۲،۲۵۱) انګریزي ترجمه جلد ۱ ص ۴۷۶، ۴۷۵) زمونږ ترجمه په اردو ترجمه مبني ده. د انګریزي ترجمې تقریباً هم دغه مطلب دے خو په خائے د دې چې شیر شاه کوټ فتح نه کړے شو د انګریزي ترجمې مطلب څۀ داسې دے چې تر څۀ وخته د محاصرې د امتداد تر څۀ وخته د محاصره د وړدولو نه پس شیر شاه پس له قوله قراره د شهزاده عادل خان او قطب خان په ذریعه د پورنمل په راکوزولو کښې کامیاب شو

د فرشته د بیان حاصل هم تقریبا دغه څۀ دے کوم چې د بدایوني د بیان خو د فرشته دا الفاظ ئې د غور قابل دي: "راجپوتان دل برمرګ نهاده کارستاني ئې کردند که داستان رستم واسفندیار بازیچه شد و پروانه وار خود را برسر تیغ و تیر و دندان فیل بےمحابا بدانسان زدند که جمله باز زند خود را کشتند و سوختند" یعنې راجپوتو مرګ قبول کړے داسې کارنامه وکړه چې د رستم او اسفندیار قصه لوبه تماشه شوه. هغوي خان د پتنګانو په خیر د تورو په خلو او غشیو او د هاتیانو غاښونو ته بې دریغه ور اچولو چې ګردو د ښځو او اولاده سره خان ووژلو یا وسوزولو

لکه چې عرض وشو ماسوا د دې تفصیل نه د فرشته بیان د بدایوني سره سم دے په عکس د دې لکه چې تاسو ولیدل د خواجه نعمت الله د بیان له رویه چې پورنمل کښې د مقابلې توان پاتې نۀ شو نو هغۀ پخپله په شرط د بخښنې د کوټ د سپارلو پیشکش کړے وۀ. د خواجه نعمت الله نه اګاهو سرواني هم دغه څۀ لیکلي دي. علاوه له دې دا خبره هم د غور قابله ده چې شیر شاه له اوله چې کوم وخت پورنمل ئې لیدو له راغے ترې مطالبه وکړه چې مسلمانانې ښځې چې ئې بندي کړې دے هغه دې ور وسپاري. دۀ ورته ووې چې هغه زما په قید کښې نه دي زۀ راجه نۀ یم بلکې د هغۀ وکیل یم زۀ هغۀ له ورځم هر څۀ حکم چې وې هغه به ئې ورسوم چې هغه څۀ وائي. د سرواني الفاظ دا دي "پورنمل راجه این پیدا شد بعد(۱) کشش ماه

خودآمده شیرخان رادید۔ شیرخان فرمود که بنارس ترادادم واہل وعیال مسلمانان ([که در بند شماست بد ہند بہیا پورنمل عرض کرد که اہل و عیال]) در بند ما نیست من راجه نیستم من وکیل او ہستم من نزد او بروم آنچه حکم است تا او چه گوید۔'' (قوسین فاضل محشي د برټش میوزیم او بوډلین لائبریرو د نسخو په بنا علاوه کړي دي.) فارسي نسخه ص ۱۸۸، ۱۸۹ اردو ترجمه ص ۱۲۰ اردو ترجمه د قوسین تر مینځ مضمون نهٔ لري. لیکن دا الفاظ پکښې شته چې پورنمل ووې چې د مسلمانانو اهل و عیال زما په قید کښې نهٔ دي. نو ګویا په هغهٔ دا الزام وهٔ او ترې د هغو د ازادولو مطالبه شوې وه.)

پس له دیو خبرو شیر شاه ولګید پورنمل ئې رخصت کړ او دهٔ په خان ویره او هیبت راوست او شیر شاه ورله د شهزاده عادل خان او قطب خان نیب په ذریعه د امن و امان او روغې جوړې تسلي ورکړه او پورنمل له کوټه راکوز شو، پس له څو ورځو د چندیري هغه مظلومې ښځې چې څښتنان ئې پورنمل وژلي او لونه ئې ورله بندیوانې او وینځې کړې وې او ګډا به ئې پرې کوله راغلې او فریاد ئې وکړو. د شیر شاه چې څهٔ حال وهٔ او څهٔ ئې ورته ووئیل سرواني ئې داسې بیانوي: ''چون شیرخان حاکم دیندار و عدالت دثار بود از استماع این کلمات عبرت آمیز مظلومان آب از دیده ہائے او مترشح گشت و فرمود که صبر کنید که من او را بعهد و سوگند فرود آورده ام۔ ایشان عرض کردند که به علماء وقت خود رجوع کنید۔۔۔ از علماء طلب فتوی نمود۔۔۔ امیر سید رفیع الدین وعلمائے دیگر که ہمراه اردوئے ظفر قرین بودند بر قتل او فتوی دادند۔۔۔ پورنمل را خبر شد که دائره او گرد کردند زن خود را که شاوتی (یا دشاوتی) نام داشت ومحبوب او بود و اشعار ہندی خوب می گفت در سراپرده خود در آمد و سراو را برید و پیش عزیزان آورد گفت من این کردم شما نیز اہل وعیال خود را ہمه بقتل آرید چون ہندوان بکشتن اہل وعیال مشغول شدند افغانان، از ہر طرف بقتل ہندوان دست دراز نمودند۔ پورنمل در شجاعت ومردانگی تقصیر نه نمود اما در طرفة العین تمام ہندوان مقتول گشتند و اہل وعیال ایشان بند شدند یک دختر۔۔۔ الخ'' یعنې هر کله چې شیر خان یو دیندار او عادل حاکم وهٔ په اوریدو د دیو عبرتناکو خبرو سترګې ئې له اوښکو ډکې شولې او وې وئیل چې صبر کانئ چې ما په لوظ قسم راکوز کړے دے هغو عرض وکړو چې د خپل وخت عالمان ویوښته.... عالمان ئې ویوښتل امیر سید رفیع الدین او نورو عالمانو چې د بریالي لښکر سره وو د هغهٔ د وژلو فتوې ورکړه... پورنمل خبر شو چې د هغهٔ ډیره ئې ګیره کړه ارتینه ئې چې رشاوتي نومیده چې پرې مئین وهٔ او د هندي ښه شاعره وه سراپردې ته ورغے د هغې سر ئې پریکړو او نورو عزیزانو له ئې راوړ او ورته ئې ووئیل چې ما خو دا وکړل تاسو هم خپله اهل و عیال ګرد ووژنئ. چې هندوانو خپل اهل و عیال وژلو نو پښتنو له هره لوریه د دوي په وژلو لاس پورې کړل. پورنمل په زړهٔ ور توب او مړانه کښې کمے ونهٔ کړو خو د سترګو په رپ کښې ټول هندوان ووژل شول او اهل و عیال ئې په بند شول. یوه لور...الخ. (سرواني ص ۱۸۹ـ ۱۹۲)

د بدایوني او فرشته داسې انداز اختیارول چې ګوندې پیشکش شیر شاه کړے وهٔ

صحيح نهٔ دي. په هر حال د هغوي مجمله وينا غلط فهمي پيدا کونکې ده. د سرواني د بيان له رويه چې وروسته ئې خواجه نعمت الله هم مرسته کوي دا خبرې جوتيږي:

(ا) پس د شپږو مياشتو د محاصرې اخر د ښتنو د برې او سوبې آثار جوت شول. او راجپوتو پخپله شير شاه ته د خنو شرائطو سره د کوټ د ورسپارلو پيشکش کړے وهٔ.

(ب) د شير شاه له لوريه دا شرط پيش شوے وهٔ چې پورنمل دې هغه مسلمانانې ښځې چې ددهٔ په قيد کښې دي ور وسپاري. او پورنمل له دې خبرې سکوت منکر شوے شو چې مسلمانانې ښځې د هغهٔ په بند نهٔ دي.

(ج) کوټ ته ستون شو او په خان ئې د ويرې او هيبت راوستلو نه پس د امان او حفاظت خبره نوره هم پخه کړه له کوټه راکوز او يو ځائے ورله ډيرې ډهاره وتاکل شو

(د) پس له څو ورځو هم د هغه مظلومانو مسلمانانو ښځو له وينا شير شاه ته د پورنمل د ناسازو او ناکردو حال جوت شو

(هـ) شير شاه بيا هم هغو ته د صبر تلقين وکړو او خپل قول قرار ئې ورته وړاندې کړو

(و) هغو ښځو معامله عالمانو ته د سپارلو مطالبه وکړه.

اوس نو د الفنستن او ډاؤسن او د هغو د نورو هم نواؤ او مؤرخانو په شير شاه د بدعهدى الزام لګول يا خو د حقيقت له حاله ناخبري او يا له قصده ځان نهٔ خبرول دي. دروغ، مکر او فريب پورنمل کړے او په دغه طريقه ئې له شير شاه قول او قسم اخستے وهٔ او له هيڅ اخلاقي يا قانوني معيار له رويه هغه معاهده د ژغورلے کيدو حق نهٔ لري. چې پکښې يو فريق له بله فراډ (دوکه) کړے وي. دې سره دا خبره هم د ياد ساتلو ده چې کوم وخت هغو مظلومو ښځو شير شاه وته د پښتنو خانانو او عامو سپاهيانو په مخکښې وير ناورين کړے وې او ورته ئې وئيلے وې چې ''اگر داد ما ندہی فردا در عرصات روز قیامت کہ اولین و آخرین خلائق جمع شوند دامن تو خواہم گرفت۔'' يعنې کهٔ زمونږ نياؤ دې ونهٔ کړو نو سبا د قيامت په ورځ چې مخکښې او وروستو ټول وګړے به راټول وي زمونږ لاس او ستا لمن به وي. د خانانو او عامو پښتنو سپاهيانو چې شپږ مياشتې د راجپوتو سره مرګ ژوبله کړې وه د جذباتو به څهٔ حال وهٔ. آيا په داسې حال کښې بيا خصوصاً چې هغه مظلومو ښځو عالمانو ته د معاملې سپارلو مطالبه وکړه د شير شاه دپاره د خپل فوځ د جذباتو خبينل او ترې بې پرواهي ممکنه وه؟

باقي پاتې شوه د قيديانو د وژلو خبره نو دا ښکاره نامعقول الزام دے. راجپوت تر اخره مسلح وو او کهٔ جنګ ئې کولو او کهٔ جوهر خپل توان او خوښه ئې وه. بلکې د بدايونې،

فرشته او سرواني په بيانونو کښې په ترتيب دا خبرې د غور قابلې دي:

(ا) ځنو ځان پخپله وسوو. (بدايوني)

(ب) راجپوتو داسې کارنامه وکړه چې د رستم او اسفند يار قيصه لوبه تماشه شوه (فرشته)

(ج) ټولو ځان سره د زن بچه ووژلو او وسوڅ. (فرشته)

(د) پورنمل په مړانه کښې کمې ونهٔ کړو. (سرواني)

د ديو تکرو د نظر د وړاندې دا سوالونه پيدا کيږي چې آيا صرف د خود کشي يا جوهر (يو تر بله بغير د جنګ وژلو) دپاره د رستم او اسفنديار د مقابلې مثال راوړل کيدے شي. (۲) د پورنمل په مړانه کښې د کمي نهٔ کولو څهٔ مطلب دے. آيا د ديو خبرو نه دا نهٔ ثابتيږي چې راجپوتو صرف جوهر نهٔ ٔ کړے بلکه پښتنو سره ئې هم ښه مقابله کړې وه. (۳) بيا دا چې راجپوت ستي کيدل ځان ئې سوو نرچناګانے (د اور بلولو ځايونه) کوم ځائے تيار شوي وو. آيا دا خبره دا خيال انګيزي خو نهٔ کوي چې د پورنمل د راکوزيدو نه پس (کهٔ چرې هغه راکوز شوے وهٔ) لا څهٔ راجپوت په کوټ کښې هم پاتې وو.

په هر حال لکه چې عرض وکړې شو راجپوت قيديان نهٔ وو او د جنګ دپاره ورسره اسلحه موجوده وه. لکه چې د مالير کوټله نواب سر ذوالفقار علي خان په خپل انګريزي تاليف شير شاه سوري ص ۵۲ و ۵۷ کښې ليکي د شير شاه هندو سوانح نګار پروفيسر قانونګو دا خبره مني چې راجپوتو قلا شير شاه ته سپارلې وه. خو ځان ئې ورته نهٔ وو سپارلے هغوي مسلح وو او پښتنو سره پس له ښې او سختې مقابلې وژلي شوي وو

(۲) پښتنو نسخې "ديال ديو" ډورن (حصه ۱ ص ۱۳۸) "رامديو". اګر کهٔ په مخ "مالديو".

(۳) ډورن (حصه ۱ ص۱۳۸) "ممالک محروسه له لال سونته تر جود هپوره او مال پوره".

(۴) ډورن (حصه ۱ ص ۱۳۸) "د هغهٔ يو هلک نيوُيو (ورارهٔ يا خورئيے) چې د عادل شاه زوے وهٔ" الخ. ن ز ۱۱۶/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۳۲۶ "اوهٔ کلنے د لور زوے". د ن ح فاضل محشي د ډورن يادې شوې صفحې ته حواله کوونکے ليکي چې "محمود خان را عمزادهٔ شير شاه و پسر عادل شاه نوشته". يعنې "محمود خان ئې د شير شاه د ترهٔ زوے او د عادل شاه زوے ليکلے دے". د ډورن په ترجمه کښې لکه چې عرض وشو محمود خان د شير شاه نيويو او د عادل شاه زوے ياد شوے دے. او نيويو په انګريزی کښې ورارهٔ او خورئی ته وائي. نه چې

تربور (عمزاد) ته. کۀ کزن وړے نو د ترۀ ، ماما یا ترور(پهو یا ماسي) زوړے به ترې مراد وۀ.

(۵) جودهپور د راجپوتانې (راجستهان) په اجمیر مارواړ نومې علاقه کښې د اجمیر شریف نه لویدیز او ناګور د اجمیر شریف نه قطب لویدیز او جودهپور نه قطب خاتیز ته دے. په راجستهان کښې د اجمیر مارواړ علاقې جودهپور او ترې قطب ته بیکانیر د راتهور راجپوتو مشهور ریاستونه وو چې ګهډوال (راتهوران) له قنوجه چې ئې زوړ مرکز وۀ ولیږدیدل نو دغو علاقو ته راغلل.

ص ۱۳۳

(۱) ن ب "بنده".

(۲) ن ز ۲/۱۱۶ ن ح جلد ۱ ص ۳۲۷. "واز جانب امرائے مالدیو خطہائے نوشتہ". یعنې د مالدیو د امراؤ له لوریه ئې خطونه وکښل".

(۳) کوړان، کفتاران.

(۴) یعنې پس له پریشانی او پښیمانی وجاروخي. ن ب "سر ګردان".

ص ۱۳۴

(۱) مط ن ب. ن ا "سرې ئې".

(۲) آبو: د راجستهان په سروهي ریاست کښې د اجمیر مارواړ د جودهپور نه جنوب او د میواړ د اودےپور نه مغرب ته دے. د سروهي ریاست حکمران خاندان د راجپوتو له چوهان څانګې وۀ. د آبو غر د هندوانو په نزد د عزت او درناوي وړ دے څکه چې د دوي د اساطیرو له رویه چې کوم وخت کشتریان (جنګیالي یا توریالي) ورک شول نو د بشو امتررشي په کرامت د آبو په غرۀ څلور ذاته اورزوي راجپوت (اګني کل راجپوت) پیدا شول چې پنوار، پریهار، چوهان او سولنکي دي. او د راجپوتو لویې کورنی اکثر و بیشتر هم د دیو څلورو ویشونو څانګې دي.

سروانې (فارسي ص ۱۹۸). "مالدیو در قلعہ سوانہ رفت کہ در حد گجرات است". یعنې "مالدیو د سوانې کوټ ته چې د ګجرات په حد کښې دے ولاړ". اردو ترجمه ص ۱۲۶ (د فارسی نسخې حاشیه۵ د مخزن په حواله "مالدیو گریختہ بہ قلعہ آبہورفت". یعنې "مالدیو وتښتید او د آبو کوټ ته ولاړ".

(۳) ډورن (حصه ا ص ۱۴۰). "ګورنر". ګورنر (د یوې علاقې یا صوبې حاکم یا عامل) د رانا صحیحه او موزونه ترجمه نۀ ده. رائې ،راو، راجه او رانا په سنسکرت او هندی کښې د باچا مترادف توري دي.

(۴) سروانـي (فـارسـي ص۱۹۸) "کهيچ وار" اردو ص۱۲۶ "کـچهي واړه" ډورن (حصه ا ص ۱۴۰) " کوچه وان".

(۵) رنتهمبهور

(۶) کـالنجر. د يو. پي د بانده ضلعې بانده ښهر سهيل ته، د بونديلکنډ د پنه نه قطب څخو ختيز او د بګيلکنډ د ريوه نه قطب څخو لويديز ته پروت دے.

(۷) سـرواني (فـارسـي ص ۲۰۱. ۲۰۳و اردو تـرجـمـه ص۱۲۸ او ۱۲۹) "راجـه کيرت سنګهـ".

ص۱۳۵

(۱) "ز آتش مرد". د ۹۵۲ (هـ) مياشت ربيع الاول مطابق مئ ۱۵۴۵ ء.

شيـر شـاه: شيـر شـاه د اسـلامـي هند له يو څو عظيم ترينو حکمرانانو څخه وۀ. هغه د قـابلې او عادلې فرمانروايۍ په اسمان هغه ځلاند او روښانه ستورے دے چې د هند او پاکستان د بر عظيم د يو ويړ او پراخ چاپيرچل په ورِدۀ او پسارۀ کښې ئې تر اوسه پلوشې بريښي او په مخ بـه هـم بـريښـي. نـو لـه دې قبله بايد چې د نړۍ په ډيرو لويو فرمانروايانو کښې ئې شمار وشـي. هـغـه لـوئـے مـدبـر، ستـر سپاهي او فاتح، ډير عادل او بې د مذهب او ملت او طبقې او درجـې لـه بيـلتـونـه پـه رعايا ډير مئين باچا وۀ. د هغې زمانې د معيار او حالاتو له رويه او د هغه خپـل مـاحول نظر د وړاندې لکه چې زمونږ په کتاب کښې هم راغلي دي ښۀ لوستے سړے وۀ او خـدائـے تـعالىٰ ورله غير معمولي ذهن او دماغ او عقل او پوهه بخښلې وه. د هغۀ فتوحات، مـلکي بندوبست او انتظام، اصلاحات او د رفاه عام کارونه ئې د دغې ستائنې وړ ګرځوي. بيا چې دې خبرې ته پام وکړو. چې دغه هومره ډير اهم او ورِد پلن پروګرامونه دې عظيم پښتون حـکمران صرف د څلورو پينځو کالو په لنډه تنګه موده کښې تر سره رسولي وو نو دۀ وته د دومـره لـږ وخـت، کـم فـرصـت او مهلت په حاصليدو د افسوسه سره مو په زړۀ کښې د دۀ د شـخـصـيـت د عظمت نخښې لا زياتې روښانه جوتې شي. او دې ښکلي او سپيځلي شخصيت سـره مـو د مـحبت او عقيدت جذبات لا پريوانه شي. د دغه جليل القدر انسان په کارنامو چې بـس څـلـور پـنـځۀ کاله ئې د هندوستان د حکومت زمام په لاس کښې وۀ مسلمانان عموماً او پښتانۀ خصوصاً په ځانے فخر او وياړ کولے شي.

د شيـر شـاه د کـارنـامو يوه مختصره جائزه: شيـر شـاه خپـل پـراخ مملکت په اوۀ څلويښتـو بـرخـو کښې ويشلے وۀ. او د حکومت د نظم او نسق د بهترۍ دپاره ئې څنې نوې عهده داران هم مقرر کړي وو. په پرګنو کښې به چې کوم افسران يا عهده داران مقرريدل په

هغو کښې به د شقدار عهده له نورو تولو زیاته اهمه وه چې د پرګنو عام انتظام او بندوبست به هم د دهٔ په لاس کښې وهٔ. پرته له شقدارانو په پرګنو کښې به امینان او منصفان هم مقرر وو. د شیر شاه نه وړومبے به ئې امین یا منصف ته مشرف وئیل. د شیر شاه مشرف ته د امین یا منصف لقب ورکول.دا ښيي چې د هغهٔ په ذهن کښې دا نهٔ وه چې دا عهده دار دي د حکومت دپاره زیات نه زیات رقمونه له خلقو راټولوي. بلکه دا ئې غوښتل چې د حکومت او کاشتکارانو تر مینځه دې د معاملو پریکون د عدل او انصاف او د عام وګړي د رفاهیت په بنا کیږي. د نورو کارونو نه علاوه د امین یا منصف په فرائضو کښې د فصلونو کتنه او د مالیې ټولونه هم وه. په هره پرګنه کښې به یو خزانچي هم وهٔ چې نوطه دار به بلل شو. کارکنانو به حساب په فارسي او هندی دواړو ژبو کښې لیکلو. قانونګو به هغه ټول کاغذونه ځان سره محفوظ ساتل چې به ترې د تیرو کلونو حالات او کوائف معلومیدل.

د شیر شاه له ګڼو عظیمو کارنامو یوه د سړکونو په جوړولو تګ راتګ،تجارت، او د خبریدو خبرولو د ذریعو او وسیلو آسانول، زیاتول او ورته پراخي بخښل دي. همې خو د شیر شاه نه وړومبے هم په هندوستان کښې سړکونه وو. خو په کومه لویه پیمانه چې دا کار شیر شاه کړے وهٔ تر دې آګاهو د هندوستان په تاریخ کښې ئې مثال نهٔ شي بیا مونډے. د شیر شاه د ټولو نه لوئے سړک په قطب لویدیز کښې د اباسیند له غاړې په مشرقي بنګال کښې تر سنار ګاوں سهیل خاتیز رویه تللے وهٔ. دویم سړک له آګرې شروع شوے او مالوې کښې د تیریدو نه پس په دکن کښې تر برهانپوره رسیدلے وهٔ. دریم سړک له آګرې د راجستهان د میواړ برخې تر چتوړه او څلورم له لاهوره تر ملتانه وهٔ.(وګورئ د تاریخ شیر شاهي په اردو ترجمه د ډاکټر سید معین الحق صاحب مقدمه (ص د) د وړومبي سړک په حقله د ستائیلي ډاکټر صاحب بیان غالباً چې په تاریخ فرشته مبني دے. فرشته وائي ''از سنارگاؤں وتا آب سند کہ بہ آب نیلاب اشتہار دارد دو ہزار و پانصد کروہ است''. الخ (جلد ۱ ص۲۲۸) خواجه نعمت الله هم دغه بیان لري(ن ز او ن ح) په دغه سړکونو په هر دویم میل یوه سرائې جوړه کړلې شوې وه. چې مسافر به پکښې تر څو ورځو د حکومت د میلمه په طور اوسیدے شو. په دیو سرائے ګانو کښې به د مسلمانانو او هندوانو دپاره د خوراک څښکاک بیل بیل انتظام وهٔ. هرې یوې سرائې سره به یو کوهے او جماعت هم وهٔ. د سړکونو دواړه لوریه په مناسبه فاصله میوه دارې او سایه دارې ونې لګیدلې وے. د لارو د حفاظت مکمل انتظام شوے وهٔ او مسافر او لاروي له هره قسمه خطرې خلاص او بې اندیښنې وو. عبدالقادر بدایوني لیکي چې کهٔ یوه بوډۍ به هر ځائے سره د سرو زرو د تالي وده وه. نو څوک.غل، شوکمار یا بدمعاش ئې په لوټلو نهٔ

توانیدو. (جلد ۱ ص ۳۳۳ و ۳۳۴) سنار گاون له ډهاکې جنوباً شرقاً د پنځوسو میلو په فاصله وه. اوس وران دے. الفنستن د اکبر باچا د یوهٔ همعصر مورخ د وینا په بنا وائي چې له بنګاله نې تر مغربي رهتاسه اٹک (دریائے سند) ته نزدې جوړ کړے وه. (تاریخ هند ص ۴۵۸) دغه مورخ ظاهره ده چې بدایوني دے. وګوری د هغهٔ د کتاب منتخب التواریخ انګریزي ترجمه جلد اول ص ۴۷۲ و ۴۷۳ او اردو ترجمه ص ۲۵۰) په اردو ترجمه کښې د "تر مغربي رهتاسه" په ځائے "رهتک" لیکلي دي چې غلط دي. د مغربي رهتاس نه مراد د ضلع جهلم رهتاس دے په عکس د بهادر رهتاس چې ډیر لرې ترې جنوب مشرق کښې واقع دے. دریائے سند ته چې مونږ ورته عام طور سره اباسین وایو، د مغلوالي په زمانه کښې عام طور سره آب نیلاب هم ونیلي شوې دي. رهتاس د جهلم سیند ته نزدې له آب سند نه په کافي ډیره فاصله واقع دے. بدایوني دویم سړک له آګرې تر مالوې یادوي.

(۱) وګوری اردو ترجمه ص ۲۵ انګریزي ترجمه جلد ۱ ص ۴۷۳. په انګریزي ترجمه کښې د بوډۍ په ځائے بوډا سړے دے. فرشته هم دغه مضمون لري. (جلد ۱ ص ۲۲۸) وائي چې "اګر زالے باسبدے پراز طلا در صحرا شبها خواب کردے حاجت پاسبان اصلا نبودے". یعنې "کهٔ یوه بوډا یا بوډۍ (زالې) د سرو زرو نه ډک شکور سره په بیدیا کښې شپې تیرولې نو ورلره د محافظ هیڅ ضرورت نهٔ وهٔ."

د شیر شاه په عهد کښې د ډاک انتظام هم په ډیرې وچتې پیمانې وهٔ. په هرې یوې سرائې کښې به ډاک څوکی هم وے. دوه سوارهٔ به په ډاک وړلو مقرر وو. د سندھ او بنګال له لرې علاقو نه به هره ورځ شیر شاه ته رپورټونه رارسیدل.

د شیر شاه فوځ ډیر زیات روزلے او منظم وهٔ. د فوځ دوه حصې وے. یوه برخه خو به په هغو ښهریو او پرګنو کښې ویشلې شوې وه چې له فوځي نقطه نظره اهمې وے. او بله حصه به د دهٔ د نګرانی لاندې دهٔ سره په مرکز کښې وه. د مرکزي برخې ګڼه یو نیم لک سوارهٔ او پنځهٔ ویشت زره پلي وو. او علاوه له دیو په فوځ کښې پنځهٔ زره هاتیان هم وو. په دې غرض چې فوځیان د ښهٔ او اعلیٰ نسل آسونه د پیسو د بچ کولو دپاره په بدو او معمولي آسونو بدل نهٔ کړي آسونو له به شاهي داغ ورکړے کیدے شو. اګر کهٔ دا طریقه وړومبے سلطان علاؤالدین خلجي رائجه کړې وه خو پسته پریښودلې شوې وه. او شیر شاه بیا په ډیره سختی جاري کړه. د سپاهیانو حلیې به چې څهرې به ئې ورته وئیل هم لیکلې او ساتلې کیدے.

اګر کهٔ د همایون د زوي اکبر څنو تالي څښتو خصوصاً د دهٔ ملحد وزیر ابوالفضل چې اکبر ئې هم لګه د خان له دینه او ایمانه خلاص کړے وهٔ. د شیر شاه غوندې لوئے انسان او

ستر حکمران د عظمت نهٔ صرف د پښتولو زيار کاږلے دے بلکه په هره ممکنه بده نامه لکه عيار، مکار، نيرنگسار، روباه باز،سيه بخت او تباه روزگار وغيره ئې ياد کړے دے. خو نهٔ خو چرې د سپوږمۍ رڼا د سپيو په ټم ټته شوې ده او نهٔ چرې د بد ويونيو په بد وئيل د ښو ميړنو ښيگړه ورکه شوې ده. ښاغلے ډ:کټر سيد معين الحق صاحب چې د چا د "تاريخ شير شاهي" په اردو ترجمه ليکلې شوې ډيرې عالمانه او مفيدې مقدمې په بنا ما د شير شاه د کارنامو دا مختصره جائزه مرتبه کړه. (او ښاغلو لوستونکو ته ئې د وړاندې کولو عزت حاصلوم) او دغسې مې ځان د ډيرو کتابونو د پاڼو لټولو او اړولو نه وژغورلو.(علاوه له دې د سرواني د کتاب آخري باب چې د شير شاه اخلاق، عادات، انتظامات او اصلاحات بيانوي هم په دې باب يو ډير اهم جامع او سودمن دستاويز دے چې پرې د ښاغلي امام الدين صاحب حواشي ځان له افاديت لري.) په خپلې يادې شوې مقدمې کښې ليکي .... د دور اکبري د مورخانو دا رويه صحيح نهٔ ده. چې د ټولو اصلاحاتو او ښيگړو خيره د مغلو په سر تړي. او نهٔ د شير شاه د څنو عقيدتمندو دا وينا د قبلولو ده چې آئين اکبري هم د دهٔ (شير شاه) د جوړو کړو قوانينو بل نوم دے. .... د شير شاه په انتظامي اصلاحاتو ډير څهٔ ليکل کيدے شي.......خو چې کومې مختصرې اشارې مونږ د هغهٔ د څنو اقداماتو په حقله وکړې هغه د دې خبرې د جوتولو دپاره بس دي چې هغه د مشهورو منتظمانو او سياستدانانو په وړومبي صف کښې د ځائے حاصلولو وړ دے. د دهٔ د عملي سياست يو بل اړخ د يادولو دے. شير شاه د خپلې انصاف پسندۍ دپاره مشهور دے.......... د شير شاه انصاف پسندي کومې خاصې طبقې يا مذهب او ملت پورې محدوده نهٔ وه. بلکه هر وګړے ئې چې د حکومت نه ئې د انصاف تقاضا کولې شوه په نظر کښې يو شان وهٔ. دې سره دا ښئينه هم ضروري ده چې دهٔ د خپل حکومت د نظام خصوصاً د عدليې بنياد په شريعت د ايښولو مښود او کوشش کړے وهٔ. او په دغه کار کښې کامياب شوے هم وهٔ........د مغليه حکومت د وړومبي دور ماحول د شير شاه د شخصيت او کارنامو د قدرداني او ستائنې دپاره سازگار نهٔ وهٔ. د اکبر د عهد انتظامي اصلاحات خاص طور سره د باج او ماليې په حقله چې کومې تبديلې شوې وے په هغو کښې د اکثرو بنياد شير شاه ايښے وهٔ".

د کيمبرج تاريخ هند د مؤلفينو ډله ئې داسې ستائنه کوي : "د څنو هندوستاني مورخينو له لاسه شير شاه سره ډير لږ انصاف شوے دے ځکه چې د هغوي انحصار د مغلي امپراطورۍ د مورخينو په آثارو وهٔ. چې د چا په نزد هغه سوا لهٔ يوهٔ باغي پښتون شير خانه هيڅ نهٔ وهٔ. په حقيقت کښې هغه له هغو عظيم ترينو فرمانروايانو څنې يو وهٔ چې د دهلي په تخت

ناست وو. بل هيڅا له ايبکه (قطب الدين ايبک) تر اورنګزيب د نظم او نسق د تفصيلاتو داسې رسا پوهه نۀ لرله لکه هغۀ او نۀ ئې چرې د عوامي معاملاتو داسې تفصيلي جاج اخستے وۀ او نۀ ئې داسې موثر قابو پرې درلۀ. هغۀ د پښتنو سردارانو شورش په قابو کښې ساتلے او قبيلوي رخې ئې ورله خپښلې وے. هغۀ د مالګزارى د بندوبست اصلاح وکړه. او داسې شاهراه ګانې ئې سازې کړې چې پرې سرائې ګانې، کوهې او د مسافرو د آرام او حفاظت هر شان انتظام وۀ. او په خپل مملکت کښې ئې داسې امن امان قائم کړو چې چا د بل مال ته په بدو سترګو نۀ شول کتلے. يوې بوډۍ د سرو زرو ډک لوښي سره په خوشے خوشيا کښې هم ارام کولے شو. او يو شل ګډ ته له رستمه هم څۀ ويره نۀ وه. پخپله يو نيک مسلمان وۀ (او) په چا د مذهب په نامه د زياتي روادار نۀ وۀ. او له اکبره زيات پوه... دا کوشش ئې نۀ وۀ کړے چې روحاني اقتدار حاصل کړي. بلکه هر څوک ئې د خدائے په لټون کښې خپلې خوښې ته پريښې وو. راسخ العقيده مسلمان مورخ بدايوني د داسې عادل بادشاه په عهد کښې د خپلو زيږيدلو دپاره د خدائے شکر ادا کوي.(ملا عبدالقادر بدايوني د اکبر په ژوندانۀ د خپل تاريخ په شائع کولو نۀ وۀ توانيدلے (د تاريخ شير شاهي د اردو ترجمې مقدمې له بناغلي ډاکټر سيد معين الحق) د بدايوني کوم بيان ته چې حواله شوې ده ورلره وګورئ اردو ترجمه ص ۲۵۰ او انګريزي ترجمه جلد ۱ ص ۴۷۳. بدايوني د شير شاه د حکومت په وړومبي کال ۱۵۴۰ء/۹۴۷هـ کښې پيدا شوے وۀ) د هغۀ ډير دانشمندانه او منصفانه انتظامي اقدامات اکبر بې له اعترافه اختيار کړل. يا ئې د هغو نقل وکړو. هغۀ له هره يوه چې پس له هغۀ راغے، د بدديانتي، خيانت او په عوامي خزانه کښې د اَغم دَغم په انسداد کښې زيات کامياب وۀ". (دي کيمبرج شارټر هسټري آو انډياص ۲۶۱).

يو معاصر هندو مورخ ډاکټر ايشوري پرشاد ليکي: "شير شاه په تاريخ کښې د يو وچت مقام وړ دے. د خپلو سياسي اصلاحاتو او مذهبي روادارى په ذريعه هغۀ په غير شعوري طور د اکبر د عظمت بنياد ايښے وۀ. د هغۀ د مالي (زرعي) قوانينو او دستور ترتيب او تنظيم مغلو ته يوه قيمتي ورثه وه. هغوي د هغۀ د لائحه عمل د پيروى نه پس تکميل وکړو. ټوډرمل او نورو د هغۀ طريقې اختيار کړلې. او د حالاتو سره سم ئې پکښې ترميم وکړو. په حقيقت کښې د شير شاه کارنامې د قرون وسطيٰ په تاريخ کښې هغه په وړمبي صف کښې د مقام وړ ګرځوي. او د هغۀ د مذهبي روادارى ځلاند مثال دي". (مسلم رول ان انډيا ص ۲۴۶)

او ښاغلے ډاکټر برينر ډسپونر د هندوستان د آثار قديمه ډيټي ډائريکټر د مالير کوټلے د نواب ښاغلي سر ذوالفقار علي خان په تاليف "شير شاه سوري" خپل پيش لفظ

کښې وائي: "خپله نامه د شير شاه نامې سره يو ځائے کول چې د ډيرو خبرو له قبله د دهلي په اورنګ نشينانو کښې قابل ترين شخصيت وۀ د هر سړي دپاره د عزت باعث دے".

عباس سرواني چې د خپل کتاب په آخر کښې د شير شاه د اخلاقو او ملکي اصلاحاتو په باب کومه مقاله ليکلې ده په هغې کښې د هغۀ د عدل او انصاف په باره کښې وائي چې هغه ډير عادل وۀ او اکثر به ئې وئيل چې عدل په هر دين کښې ښۀ دے او کافر او مسلمان بادشاهان ئې يو شان ښۀ ګڼي. يو طاعت او عبادت هم د عدل برابر نۀ دے. او کفر او اسلام ټولې ډلې د عدل مستحقې دي. د غه مقاله په مجموعي حيثيت د شير شاه د شخصيت، کردار د اندازې او په حيثيت د حکمران د هغۀ د مقام ټاکلو دپاره يو ډير مفيد دستاويز دے.

د شير شاه په حقله دا روايت هم مشهور دے چې کۀ د هغۀ په مجلس کښې به چا له يو نوې راغلي پښتون نه ټپوس وکړو چې څوک ئې او دغه ميلمه به ورته ووې چې پښتون يم او کۀ بيا به ترې ټپوس وشو چې کوم پښتون ئې نو شير شاه به ډير خفه شو. او و به ئې وئيل چې هر کله چې ونې وې چې پښتون يم نو بيا نور ټپوس ته څۀ حاجت دے. چې کوم پښتون او له کومه خيله ئې. دا د بيګانګۍ او بيلتون خوشې او بې فائدې خبرې دي. د پښتون په لفظ کښې فرق کول، يوه پلار ګڼي ويشل او بيلتون پيدا کول ناپوهي ده. وائي چې د شير شاه په مملکت کښې په قبيلو کښې دا فرق نۀ وۀ چې دا سربنے، دا بيټنے او دا غورغشتے دے او ټول ئې خپل سکه وروڼه ګڼل.

شير شاه لکه چې وړومبے تاسو ولوستل د مشرقي پنجاب په حصار فيروزه کښې زيږيدلے وۀ. د زيږون کال ئې (۸۷۷هـ (۱۴۷۲ ۷۳ء) ياد شوے دے. په دې حساب په ۹۴۷هـ (۱۵۴۰. ۴۱ء) کښې چې د باچهۍ د آغاز کال ئې دے. د قمري ګڼې له رويه د اوياؤ کالو وۀ او د وفات (۹۵۲هـ مطابق ۱۵۴۵. ۴۶ء) (د شير شاه وفات په ربيع الاول کښې شوے وۀ. په يکم محرم ۹۵۲هـ ۱۵ مارچ ۱۵۴۵ء وۀ نو د شير شاه د وفات تاريخ په مئ ۱۵۴۵ء کښې ر.خ.) په وخت ئې عمر تقريباً پينځۀ اويا کاله وۀ. لکه چې مورخان وائي شير شاه به ارمان کولو چې هغۀ له باچهي د شپيه ورغلي وه. خو نۀ پوهيږو چې يو دومره لوئے نابغه او فطين انسان په دغه حقيقت ولې نۀ وۀ خبر شوے چې د هغۀ د حکومت دا مختصره شپه د فرمانروايي د ګڼو او وړدو ورځو نه ډيره زياته روښانه وه! څنګه به پرې نۀ وۀ پوه، ضرور به پرې پوه وۀ خو د هغۀ د معيار له رويه په حکومت کښې د خدمت هر وخت ډير لږ او هره موقع ډيره وړه وه. دغه لوړ معيار ته د رسيدو تلوسې هغه په خپل عظيم کار مطمئن کيدو نه نۀ پريښودو. رحمة الله عليه رحمته واسعه.

د شیر شاه د وفات کومه قطعه چې تاسو ولوسته د دې نه پس په ن ز ۱۱۸/۱/۲، ۲ او ۱۱۹/۱/۲، ۲ او ن ح جلد ۱ ص ۳۳۲. ۳۳۹ کښې د شیر شاه د اوصافو او کارنامو په حقله یوه ډیره مفیده اوږده مقاله ده چې ډورن هم په تعلیقاتو کښې ترجمه کړې ده. (د ورومبی حصې تعلیقات ص ۱۰۵ او ۱۰۶ په تسلسل د دویمې حصې د تعلیقاتو د صفحو). ن ز ۱۲۰/۲ تر ۱۲۶/۲ او ن ح جلد ۱ ص ۳۳۹. ۳۵۰ د شیر شاه د خنو امراؤ خصوصاً خواص خان او حاجي خان د اوصافو او کمالاتو بیان لري. (ډورن حصه ۲ ص ۱۰۶ ۱۱۱) او بیا د دریو امراؤ د حال په ختمیدو، ن ز ۱۲۶/۱ او ن ح جلد ۱ ص ۳۵۰ و ۳۵۱ (ډورن حصه ۲ ص ۱۱۰ او ۱۱۱) د شیر شاه توصیف دے.

د شیر شاه په حقله چې بره به دې نوټ کښې څۀ ولیکل شول پکښې تقریباً هغه ټولې ضروري خبرې راغلې چې کومې یادې شوې. مقاله کښې بیان شوي دي د شیر شاه د پښتنو د وحدت په حقله د خیالاتو معلق بیان چې زمونږ په نوټ کښې راغلے دے په ن ز او ډورن کښې نشته. له ن ح واخست شو.

(۲) ن ز ۱۲۶/۱ ن ح جلد ۱ ص ۳۵۱ دربیان احوال اسلام شاه سوربن شیر شاه سور بن حسن بن ابراهیم سور ساکن قصبه نارنول.

صـ ۱۳

یعني چې د سلطان ابراهیم د وفات واقعې مخ ښکاره کړو. یا خو اصل ترجمه کښې نقص دے او یا ناقل نه څۀ پاتې شوي دي. خو مطلب ظاهر دے. هر کله چې وړومبے د سلطان بهلول د وفات ذکر دے نو مخ ښکاره کونکے نه مراد د سلطان بهلول د وفات واقعه ده.

۲. معز الدین کیقباد. پښتو نسخې معزالدین او کیقباد. ډورن حصه ۱ ص ۱۴۳ "کیقباد معزالدین".

۳. ناصر الدین بغرا خان. پښتو نسخې شمس الدین. ډورن حصه ۱ ص ۱۴۳ "نصیر الدین".

صـ ۱۳۷

سلطان غیاث الدین بلبن چې ۶۸۵ هجري (۱۲۸۷ء) کښې وفات شو نو زوے ئې بغرا خان په بنګال کښې وۀ نو د مرحوم سلطان امیرانو ئې نمسے کیقباد چې د اوولسو اتلسو کالو ځلمے وۀ باچا کړ.

۲. د جلال خان شهزاده د خضر خان دپاره د عیسیٰ خان د لور غوښتو واقعه.

ص۔۱۳۸

د مخزن افغاني عبارت چې د ن ح جلد ۱ ص ۳۵۳ حاشيه ۱ فاضل محشي نقل کړے دے متعلق ځائے پکښې داسې دے: ''سلطنت موہبتے است عظیم از حضرت باری تعالیٰ بہ فردے از افراد و دولتمندان عالی مقدار می رسد و این سعادت نصیب تو شد۔'' يعني باچهي د خدائے تعاليٰ له بارګاهه لويه بخښنه ده چې د دولت او لوړ شان له څښتنانو نې يوۀ کس ته کړي او دا نيک مرغي ستا په برخه شوه. ممکنه ده لکه چې زما له قوسينو اندازه کيدے شي چې د افضل خان په مخکښې عبارت داسې وي. ''سلطنت موہبتے است عظیم از حضرت رب العزت بہ یکے از بادشاہزادگان'' الخ. (زما د وړاندې پښتو نسخو کښې د رب العزت په ځائے صرف عزت او د بادشاهزادګانو په ځائے بادشاهزاده ليکلي دي. ما د قوسينو په ذريعه د صحيح عبارت نشاندهي وکړه). په هر کيف عبارت کۀ هر رنګ وي ډورن ته لکه چې لـه ترجمې ښکاري څۀ غلط فهمي شوې او د دې نه وړومبے لکه چې مونږ په دغه نوټونو کښې ليکـلـي وو د "نذور و فتوح" په ځائے "نرور او فنوج" لوستلو غوندې څۀ معامله ورپيښه شوې ده. (وګورئ زمونږ ص ۸۴ نوټ ۷ الف) ډورن د نظر د وړاندې ځائے ترجمه داسې کوي چې باچهي د اعيان مملکت له طرفه يوه فرد ته بخښنه ده.(حصه ۱ ص ۱۴۵)

۲. جـلال خـان د بـادشاه کيدو نه پس په تاريخ کښې په اسلام شاه او سليم شاه دواړو لقبونو مشهور دے. او د ن ح جلـد ۱ ص ۳۵۴ حـاشيـه ۱ فـاضـل محشي د تاريخ داؤدي په حواله ليکي چې ''خود را اسلام شاہ خطاب کرد۔۔۔۔۔ و عوام الناس او را سلیم شاہ گویند۔''

۳. واؤ مجهوله. توره. قانون، آئين، رسم، دود، پښتو توره. (مجهول واؤ) سره هم په دغو خو مـحـدودو او څـخـو بدلو معنو کښې استعمالیږي. لکه توره لکه توره چنګيز خاني ترکي لفظ دے او پـه عبـرانـي کښې د تورات لفظي معنيٰ هم قانون او آئين ده. دلته د توره لفظ د پښتو په محدودو معنو کښې لکه چې نن سبا ئې مونږ ته استعمال معلوم دے نۀ دے راغلے. د عام قانون او دستور په معنو کښې.

ص۔۱۳۹

پښتو نسخې "..... خدمت حيله". الخ.

۲. ډورن جـلد ۱ ص ۱۴۶ له "في الجمله" تر "ممالک محروسه" ترجمه داسې کوي: "في الـجـمـله د سلطنت ټولو اميرانو او افسرانو". په پښتو ترجمې کښې د امراګانو د سر يا د سر امـراګـانو ترکيب د پښتو محاورې له رويه خو معنيٰ ښندي يعني له ټولو لوے امرا خو ګوندې عبارت داسې وي. "امراګانو د سرکارونو او فوځدارانو د ممالک محروسه" کۀ داسې وي نو سرکار به د ضلع مترادف وي.

۳. ن ا "ملازمت او منت" ن ب "ملائمت او منت".

صـ ۱۴۲

ډورن حصه ۱ ص ۱۴۹ "محمد فرملي".

۲. مط ن ب . ن ا د "ته دل" نه پس "ئې" نهٔ لري.

۳. ډورن حصه ۱ ص ۱۵۰ ایضاً. ګوندې د اکرې په جنوب مغرب کښې د فتح پور سیکرې په خوا کښې تاریخي او مشهور کلے کهانوه ترې مراد وي چې د بابر او رانا سانګا د جنګ منظر وهٔ.

۳ الف. ن ب "سنګار" (ګوندې سنګاپور وي لکه چې څنو کتابونو کښې راغلے دے. مثلاً د بدایوني د منتخب العواریخ په انګریزي ترجمه جلد ۱ ص ۴۸۷ کښې شکارپور دے او په حاشیه کښې ورته سنګاپور لیکلے شوے دے. ډورن حصه ۱ ص ۱۵۰ شکارپور

د شکارپور (سندهـ پاکستان) او سنګاپور (د ملایا په جنوب کښې ورسره پیوسته کړے شوے د برطانیه مقبوضه جزیره) په نامو چې کوم مشهور ځایونه دي دلته له بحثه خارج دي. د اکرې په خواؤشا کښې د شکارپور یا سنګاپور په نامه کوم ځائے هم نهٔ دے ښکاره. کهٔ د خانو او کهانوا په باره کښې زمونږ قیاس صحیح وي نو ښائي چې دا فتح پور سیکرې یا په خوا کښې ئې څهٔ ځائے یا مقام وي. او وګورئ زمونږ د دې کتاب ص ۱۴۸، ۱۴۹ نه لرې ورومبے هلته هم خانو او فتح پور سیکرې لیکلې دي. د ن ز ص ۱۲۷/۱ او ن ح جلد ۱ ص ۳۵۶ عبارت داسې دے: "دورفتح پورسیکری با یک دیگر رسیدند و در شکار به اسلام شاه ملاقات واقع شد." یعني فتح پور سیکرې کښې یو تر بله ورسیدل او په شکار باندې یا ښکار کښې ئې د اسلام شاه ملاقات وشو د ن ح یادې شوې صفحې په دویمه حاشیه کښې د تاریخ داؤدي په حواله لیکلي دي چې فتح پور سیکرې ته ورسید نو په موضع سنکاپور (سنګارپور) هغه ځائے چې د دواړو ورونو د ملاقات دپاره اراسته کړے وهٔ اسلام شاه ئې استقبال او ورسره ئې ملاقات وکړ او د طبقات اکبرۍ په حواله هم په دغې حاشیه کښې فتح پور او سنګار پور لیکلي دي او د تاریخ شاهي په حواله لیکلي دي چې عادل خان چې فتح پور سیکرې ته ورسید نو اسلام شاه سره ئې په ښکار ځائے (شکار ګاه) کښې ملاقات وشو.

د بدایوني د منتخب التواریخ مترجم (اردو) او محشي چې په شکارپور کومه حاشیه لیکلې ده ترې ظاهره ده چې هغه دا ځائے د سندهـ شکارپور ګڼلے دے. حال دا چې لکه چې له سیاقه سباقه په شمول د بدایوني د بیان ښکاره لیدے شي د هغهٔ دلته د نظر د وړاندې د ساتلو نهو څهٔ سوال نهٔ پیدا کیږي.

صـ ۱۴۴

. يعني لري. ډورن حصه ۱ ص ۱۵۲ ايضاً. ن ب "لږ".
۲. يعني زما د صاحب (بادار) زوے دے.

صـ ۱۴۷

يعني بله دا چې د رسالت (پيغام استولو) په بهانه مې دغه منافقان له لښکره وويستل او س مې خيال دے (وايم) چې الخ. د "لښكر" نه پس قوسين د ډورن حصه ۱ ص ۱۵۵ په بنا علاوه كړل شول.
۲. مط ن ب و ډورن عصه ۱ ص ۱۵۵ ن ا "خلق به په دا گمان زبوني حمل وكا."

صـ ۱۴۸

۱، ۱ الف. وګورئ ص ۱۴۲ نوټ ۳، او ۳ الف.

صـ ۱۴۹

زما د وړاندې د پښتو نسخو (ن ا و ن ب) عبارت داسې دے. "[۱۴۸]... نمازخفتن ئې په خانو كښې وګزاره و فتحپور سيكري ته په ملازمت د شيخ سليم چشتي دا اولاده د حضرت شيخ فريد شكر ګنج وۀ او مقتدا د خپل عهد وۀ مشرف شول.[۱۴۹] عادل خان او خواص خان نيمې شپې ورغلل دغه وخت په دغه قصبه كښې وۀ او په هدايت د خلق الله مشغول وۀ مشرف شول ظاهره ده چې عبارت له مترجمه په ترجمه كښې يا له ناقله په نقل كښې ګډوډ شوے دے.
۲. يعني د حملې دپاره پرې او ماتولو لره ئې هم د دغه ساعت انتخاب ضروري نۀ دے.
۳. ډورن حصه ۱ ص ۱۵۸ منداګړ لكه چې د مضمون له سباقه معلوميږي دا ځائے فتح پور سيكري او اګرې ته نزدې واقع دے. وګورئ ص ۱۶۲ نوټ ۱
۴. ن ز ص ۱۲۸/۲، ۱۲۹/۱ "به جانب ديار پـنه" ن ح جلد ۱ ص ۳۶۱ "به جانب ديار بهته" پټنه په بهار كښې، پنه بونديلكنډ او بهټه (ريوه) بګيلكنډ كښې ده. په دريو واړو او هم په چندوار (فيروزآباد) ضلع مين پوري صوبه يو پي او جون (جمنا) وړومبے نوټونه ليكلي شوي دي.

صـ ۱۵۰

جنډې، نښانونه.
۲. يعني داسې ګرندي لاړل لكه چې شتابي (تيزي) ئې له هوا پور (قرض) كړې وي. ن ا "... اودپور" الخ. ن ب "...... اوده پوره" الخ. ګوندې د "باد" يا "هوا" په ځائے به "اور"

وي. پـه هر حال ما د ډورن د انګريزي ترجمې (حصه ١ ص ١٥٩ له رويه "اود" په "باد" بدل کړو ځکه چې پښتو عبارت مشکوک وه.

٣. ن ب "درله".

ص ١٥١

. روپړ: د پټيالې رياست سره مشرق ته د مشرقي پنجاب د انبالې ضلعې علاقه لګيدلې ده. روپړ د دې ضلعې يو ذيلي قسمت، تحصيل او قصبه ده.

٢. کماون د يو پي صوبې انتهائي شمالي قسمت چې ورومبے پرې نوټ ليکلے شوے دے.

٣. ن ح جلد ١ ص ٣٦٢ حاشيه ١ (دې ځائے سره متعلق د مخزن افغاني اقتباس) او ډورن حصه ١ ص ١٦١ "اکيلي". پښتو نسخې "الهکي" ممکنه ده "اکيهلي" وي.

٤. ډورن حصه ١ ص ١٦١ "کهاتم پور". ن ح جلد ١ ص ٣٦٣ (د منتخب التواريخ اقتباس) "کوره کهاتم پور". زما په مخکښې د منتخب التواريخ اردو ترجمه ص ٢٥٨ "کهاتم پور" چې صحيح نهٔ شي ليدے.

ص ١٥٢

مط ن ب يعنې بادشاهانو ته دا خبرې د وړاندې نهٔ وي. د بادشاهانو دغو خبرو ته نظر نهٔ وي. ن ا "بادشاهانو ته دا څهٔ منظور وي، يعنې د بادشاهانو په ديو خبرو څهٔ کار، د بادشاهانو ديو خبرو ته کله نظر وي.

٢. مط ن ب. ن ا "بادشاه". خو په بل شعر کښې دواړه "سردار".

ص ١٥٤

"هومره... کشتن وي". يعنې دا څهٔ دومره معمولي تعلق نهٔ دے چې تاته د ورور د مرګ خطره پيدا شوه.

٢. ن ز ص ١٢٩/٢ و ن ح جلد ١ ص ٣٦٣ "اسلام شاه قطب خان او شهباز خان نوحاني چې ئې د خور خاوند وهٔ له دولسو نورو امراؤ په بند د ګواليار کوټ ته واستول چې په بندي خانه کښې د نګرانی لاندې وئي." ډورن حصه ١ ص ١٦٤ "پاړ خان لوحاني چې د بادشاه اخښے وهٔ او دولس نور امراء "الخ. د اخښي دپاره د ن ز او ن ح فارسي عبارت کښې "يزنه" لفظ راغلے دے. چې د خور خاوند ته وائي. د ښځې ورور ته خسر پوره وائي. د فرشته جلد ١ ص ٢٣٠ عبارت زيات واضح دے "اعظم ہمايون قطب خان را فرستاد و سليم شاه او را محبوس ساخته با شهباز خان لوحانی که شوہر خواہر سليم شاه بود و بر مزيد گور و چند کس ديگر که جمله چهار ده نفر بودند مقيد کرده به گواليار فرستاد." يعنې اعظم همايون قطب خان ور وليږلو او سليم شاه هغهٔ سره د شهباز خان لوحاني چې د سليم شاه د خور خاوند وهٔ او

برمزيد کور او څو تنو نورو چې ګرد څوارلس کسان وو بندي کړے ګواليار ته واستول

ص ۱۵۵

اعظم همايون چې نامه ئې هيبت خان وه له نيازي قبيلې وۀ. اعظم همايون ئې خطاب وۀ.
(فرشته جلد ا ص ۲۳۰)

۲. د ډورن (حصه ا ص ۱۶۵) دلته صحيح نۀ ده ولې چې دا مطلب ترې ولاړيږي چې خواص خان کماؤن ته لاړ او خپل ورور سعيد خان ئې د اسلام شاه وژلو لره وليږلو.

۳. ن ا "پهلور د نيکوت" ن ب "..... د هنکوت". ن ز ص ۲/۱۳۰ او ن ح جلد ا ص ۳۶۶ "دنکوت" ډورن حصه ا ص ۱۶۶ "..... دينکوټ". فرشته جلد ا ص ۲۳۱ "القصه نيازيان بعد از شکست به جانب دهنکوٹ که قريب روه است رفتند. سليم شاه تعاقب نموده تا قلعه رهتاس که بنا کرده پدرش بود رفت."

يعني نيازيان پس له ماتې دنکوټ لورې ته لاړل چې روه ته نزدې دے او سليم شاه ورپسې د رهتاس ترکوټه چې پلار ئې بنا کړې وه لاړ د اسلام شاه نيازيانو پسې تر رهتاسه د تلو ذکر ن ز او ن ح هم کوي. نو معلومه شوه چې دنکوټ د جهلم نه لويديز لورې ته وۀ. او فرشته خو دا وضاحت هم کوي چې پښتونخوا ته نزدې وۀ. نو دا خائے لکه چې د ن ح فاضل محشي د بابرنامې د بيورج د ترجمې د حاشيې په حواله ليکلي دي کالاباغ ته نزدې د اباسين په شرقي غاړه آباد وۀ. خو ۹۵۶ هجري نه پس اوبو يوړ (ن ح جلد ا ص ۳۶۶ حاشيه ا) کالا باغ اګر کۀ له انتظامي لحاظه د پنجاب په ميانوالي ضلع کښې واقع دے خو له طبعي او جغرافيائي رويه بنائې چې د صوبه سرحد برخه وګڼلے شي. څکه چې د اباسين په بنيغاړه پروت دے دهنکوټ لکه د بابر نامې د يادې شوے د متعلقې برخې د حاشيې نه ليدۀ شي د اباسين په کينه غاړه آباد وۀ. اوس هم د ميانوالي په ضلع کښې د نيازيانو بنه ګڼه اباده ده.

ص ۱۵۷

اباسين.

۲. آرابه، ګاډے.

۳. ډورن، ن ز او ن ح د کامران د ړندولو او حجاز ته د ليږلو وغيره بيان نۀ لري.

۴. يعني اسلام شاه. د کامران د وفات د ذکر نه پس د اسلام شاه ذکر کيږي.

۵. ن ا "هنتري" ن ب "اينتري". اينتري يا انتري ګواليار ته نزدې جنوب څخو مشرق ته او نروړه شمال څخو مشرق ته پرته ده.

ص ۱۵۸

يا خو دا لفظ زياتي دے او يا دا مطلب دے چې يو فقير درويش (لکه چې خلق) وائي چې

خواجه حسن نومي. الخ.

۲۰. ن ز ص ۲/۱۳۲ ن ح جلد ۱ ص ۳۷۲ "نشستگاه". د تاریخ خان جهاني دغو دواړو نسخو کښې "درویش" یا شیخ له د سزا ور کولو قیصه په بل ډول راغلې ده. او د اسلام شاه د رنځورتیا د حال په ضمن کښې د اسلام شاه د وسوم وسوم چغو وهلو ذکر پکښې نشته. د دواړو انګریزي ترجمه قطع نظر له لږه لفظي اختلافه د مواد له رویه پښتو ترجمې سره سمون خوري. مخزن افغاني او تاریخ خان جهاني دواړه د خواجه نعمت الله تالیف دي او عملاً هم یو کتاب دے خو دوه بیل ایډیشنونه ضروري دي نو دې دپاره څکه په څنو ځایونو کښې پکښې محض لفظي او غیر اهم او هورې دلې اهم اختلافات هم شته. د افضل خان پښتو او د دواړو انګریزي ترجمه له یوې نسخې (مخزن افغاني) شوې لیدهٔ شي.

په پښتو او انګریزي ترجمو کښې دغه واقعه ډیره په اجمال راغلې او علاوه له دې د پیر پرستانو او توهم پرستانو دپاره د خوش فهمي او په دین کښې د اینارکي پیدا کولو مواد فراهم کونکې او ورله جرأت ورکونکې هم ده. د واقعې په صحیح نوعیت د پوهیدو دپاره ضروري ده چې پس منظر او پیش منظر ئې ښاغلو قارئینو ته په اختصار بیان شي. د یو پې د اودهـ برخې مشهور او معروف ښار جونپور کښې سید خان نومے یو سړي کره په ۸۴۷ هجري (۴۴-۱۴۴۳ء) کښې یو زوے پیدا شو چې یو ډیر لوے عالم فاضل سړے چې په سید محمد جونپوري مشهور دے ترې وخوت. (د وفات کال ئې ۹۱۰ هجري (۱۵۰۴ء) دے. وګورئ د سلطان سکندر د عهد په برخې زمونږ نوټونه ص ۲۶ نوټ ۲) دغه سید محمد جونپوري په ۹۰۵ هجري کښې د مهدي کیدو دعوې کړې وه. څوک وائي چې صرف د مهدي (محض د یوهٔ رهنما او مبلغ دین آمر معروف و ناهیٔ منکر) او څنې وائي چې د مهدي موعود کیدو مدعي وهٔ. دغه وخت د دهٔ د دعوې د نوعیت تحقیق او تفتیش ضروري نهٔ دے. په هر کیف د دهٔ دعوې په اخره د یو فساد په رنګ کښې ښکاره شوه. تر دې چې د سید محمد جونپوري پیروانو د فرقه مهدویه صورت اختیار کړو او د دیارلسمې صدی هجري په اواخر کښې ئې دومره زور اختیار کړو چې په حیدرآباد کښې ئې د عامة المسلمین او د سواد اعظم د ملک په غندنه کښې یو کتاب خور (شائع) کړو هر کله چې علماؤ دا کتاب د التفات قابل ونهٔ ګڼلو او په خواب کښې ئې څهٔ ونهٔ لیکل نو مهدویانو پروپیګنډه شروع کړه چې د اهل سنت والجماعت له علماؤ زمونږ د کتاب خواب ونهٔ شو. په دې مولانا محمد زمان خان شاهجهان پوري چې د مولانا عبدالحی لکهنوي شاګرد وهٔ په ۱۲۸۵ هجري (۶۹-۱۸۶۸ء) کښې د مهدویانو د یاد شوي کتاب خواب ولیکلو چې په ډیره واضحه، مدلله او معقوله طریقه

ئي د دوي باطل عقائد پکښې بيان او رد کړي وو. مهدويان د مولانا موصوف ياد شوي کتاب چې د تحفه مهدويه په نامه ليکلے او خور کړے شوے وۀ ډير تربت او پريشانه کړل او يو مهدوي ولګيد مولانا محمد زمان خان ئي په جماعت کښې هغه وخت چې د قرآن پاک تلاوت ئي کولو په کټارۍ څو ګزاره ووهل او شهيد ئي کړل. د هندوستان په مختلفو علاقو لکه حيدر آباد دکن او د راجستهان په ټونک او جے پور کښې د مهدويانو بنه لويه ګنه وه. د مهدويانو د ګڼو نورو کافرانه او خرافي عقائدو نه يوه د تسويت عقيده وه چې له رويه ئي اګر کۀ سيد محمد جونپوري د حضور اکرم ﷺ تابع تام وۀ خو په رتبه کښې د حضرت خاتم المرسلين ﷺ برابر وۀ او په دواړو کښې هيڅ کمے بيشے نۀ وۀ. (معاذ الله).

د سيد محمد جونپوري او د فرقه مهدويه د دغه مختصر حال د بيانولو نه پس اوس د درويش واقعې ته رجوع کوو. د سيد محمد جونپوري له مريدانو يو سړے عبدالله چې په قام نيازي پښتون وۀ دے وړومبے د شيخ سليم چشتي مريد وۀ حج ته لاړ او غالباً چې حجاز مقدس کښې ئي سيد محمد جونپوري سره ملاقات وشو. او د هغۀ معتقد شو. هندوستان ته په واپسۍ سره په يوۀ باغ کښې ئي د يو حوض په غاړه ډيره ونيوه. هم په دغه زمانه کښې په بيانه کښې شيخ علائي د شيخ حسن زوے چې پلار او زوے دواړه د خپل وخت ډير لوے عالمان وو په سجاده ناست وۀ او وعظ او تبليغ به ئي کاوۀ. شيخ حسن خو خپل ټول وخت په درس او تدريس کښې تير کړے وۀ خو شيخ علائي چې وړومبے ئي هم دغه شغل وۀ چې د پلار د مرګ نه پس سجاده نشين شو نو عبدالله نيازي له حجه راغے او د بيانې په خوا کښې ميشته شو او شيخ علائي ترې متاثره او مريد ئي شو. د شيخ علائي اثر او اقتدار دومره زيات وۀ چې د شيخ عبدالله نيازي ورسره رشک پيدا شو او ورته ئي ووئيل چې يا ګوشه نشيني اختيار کړه او يا حج ته لاړ شه. شيخ علائي ګجرات ته لاړ او څۀ موده پس بيانې ته راستون شو. د دواړو پير او مريد د پيروانې لويې ډلې وے. خو سره د شيخ عبدالله د رشک تر مينځه ئي د مخالفت هيڅ آثار نۀ وو ظاهر شوي د دوي په مريدانو کښې خنې ډير اهم او د اقتدار خاوندان هم شامل شوي وو. دلته دا ياد ساتل ضروري دي چې شيخ عبدالله په قام نيازے پښتون وۀ. او د نيازيانو او اسلام شاه تر مينځه اختلاف تر دې حده رسيدلے وۀ چې نيازيانو ترې بغاوت کړے وۀ او د بادشاه له لاسه په ماتې د اباسين غاړو ته رارسيدلي وو. د شيخ عبدالله له واقعې (چې زر به ئي ذکر راشي) د شيخ علائي چې د مسلح مريدانو ډله به ورسره وه. او د خپل خيال مطابق به ئي د امر معروف او نهي عن المنکر کار کولو شهرت چې اسلام شاه ته ورسيد نو دربار ته ئي راوغوښت او اګر کۀ شيخ علائي دربار ته په داسې شان ورغے چې د دربار د آدابو ئي هيڅ

خيـال ونهٔ سـاتـلو. (تر څو چې د دربار د آدابو تعلق دے نو زما په نزد هم دا يو لغو او بې معنې څيـز دے) او اسـلام شاه ته ئې ډيرې سپکې ستغې هم ووئيلے. اسلام شاه چې هغهٔ او ملګرو له ئـې كـوم طـعـام راليږلے وهٔ د هغهٔ د خوراكه ئې هم انكار وكړو او عالمانو سره د بحث نه پس سـره د دې چـې عالمانو بادشاه ته شيخ علائي له د سزا وركولو مشوره وركړه اسلام شاه ورته ووې چـې د مهـدوې عـقيـدې نه دې توبه وكړي او د هغهٔ د اړخه دې د احتساب كار كوي او اوسه پورې ئې چې كوم كار د هغهٔ د اجازت نه بغير كولو د هغهٔ په اجازت دې ئې كوي. دا ئې ورتـه هـم ووئيـل چـې اګـر كـهٔ عـالمانو ستا د قتل فتوىٰ وركړې ده ليكن زهٔ دې نهٔ وژنم. شيخ عـلائـي ورتـه په څواب كښې ووې چې زهٔ ستا خبره منونكے او خپله عقيده بدلونكے نهٔ يم. په دغـه دوران كښې به بادشاه لره برابر خبرونه راتلل چې نن فلانكے سردار او نن فلانكے امير د شيخ عـلائـي مـريـد شـو. سـره د دې چـې مـخـدوم الـمـلـک مير عبدالله سلطان پوري صدر والصدور بادشاه ته د شيخ علائي د وژلو ډير ترغيب وكړو او نورو علماؤ هم د دهٔ د قتل فتوىٰ وركـړې ده. بـادشـاه ورته حكم وكړو چې تهٔ زما له مملكته ووځه او بل چرته لاړ شه. او شيخ عـلائـي دكـن لـورې تـه لاړ د دې واقعې نه پس هغه وخت چې بادشاه د نيازيانو سركوبى لره پـنـجـاب ته تلو نو د شيخ عبدالله نيازي واقعه پيښه شوه: باچا چې د بيانې په خوا كښې هراور نـومـے ځـائـے ته ورسيد نو د مخدوم الملک په وينا ئې شيخ عبدالله نيازي راوغوښت. هركله چـې شـيـخ عبدالله نيازي په سلام كښې د دربار د آدابو خيال ونهٔ ساتلو نو بادشاه پوښتنه وكړه چـې د شـيـخ عـلائـي پيـر هـم دا دے چـې ورتـه ووئيـل شـول چـې هو. نو د بادشاه په حكم په سوكو ، لتو، لوړو او درو ووهلے شو. او لكه چې بدايوني ليكي چې تر كومه په هوش وهٔ نو د قرآن پا ؛ ـ د دې آيت مبارک تلاوت ئې كولو "ربنا اغفرلنا ذنوبنا و اسرافنا في امرنا و ثبت اقدامنا و ...رنا على القوم الكٰفرين" او هـم د بدايوني د وينا مطابق چې بادشاه له ملا عبدالله (مـخـدوم الـمـلـک) پـوښتنه وكړه چې څهٔ وائي نو هغهٔ ورته بيان كړهٔ چې تا او ١٠ كافر بولي. بـادشـاه زيـات غـصـه شو او نوره سزا ئې هم وركړه. تر دې ئې ووهلو چې د مرګ ګمان پرې ،شـو خـو ژوندے وهٔ. چې روغ شو نو پښتونخوا لورې ته راغے او بيا څهٔ موده پس وجاروت او پـه مـختلفو ځايونو كښې د قيام نه پس د مشرقي پنجاب په سرهند كښې ميشته شو او څهٔ مـوده پـس د مهـدويه عقيدې نه تائب شو. د اسلام شاه د مرګ نه تقريباً څلويښت كاله پس د نـوي كـ ،و په عمر كښې په ١٠٠٠ هجري (٩٢-١٥٩١ء) كښې وفات شو. نو مخزن افغاني كښـې چـ ے د درويش په لتو د وهلے كيدو او غائبيدو واقعه ليكلې ده نو دا نهٔ خو د شيخ حسن او ... ب د ې شيخ علائي ده بلكې د شيخ عبدالله نيازي ده چې په ١٠٥٥ء (١٥٣٨ء) كښې وه.

په ۱۰۵۷ هجري (۱۶۵۰-۵۱ء) کښې چې شیخ علائي په هندیه کښې وۀ (وګورئ ص ۱۲۸ نوټ ۳ او د پیری مریدی بازار ئې ښۀ ګرم کړے وۀ مخدوم الملک بادشاه ته ووې چې تا خو دې له ملکه ویستے وۀ خو هغه هم هغسې په هندیه کښې دے او بهار خان سرواني او تول لښکر ئې په مریدانو کښې شامل شو هسې نه چې څۀ فتنه ګډه کړي نو بادشاه لره راغے نو دۀ بیا ورسره نرمي وکړه او ورته ئې وونیل چې دومره وکړه چې زما په غوږ کښې ووایه چې د مهدوي عقیدې نه دې توبه وکړه نو پسته چې کوم ځائے دې خوښه وي اوسه خو دۀ ونۀ منله او بادشاه پرې درې حکم کړے. او د یو څو درو له ګزارونو ومړ. خواجه نعمت الله دغه واقعه په تاریخ خان جهاني کښې په ۱۰۵۵ هجري کښې بیانوي.

د اسلام شاه د وفات په وخت د بدایوني عمر دیارلس کاله وۀ او اګر کۀ د هغۀ له بیانه معلومیږي چې د نیازیانو تمرد سره د شیخ عبدالله نیازي او د شیخ علائي تحریک او سرګرمو خطرناک صورت اختیار کړے وۀ او هم له مذهبي او هم له سیاسي نقطۀ نظره د برداشت له حده وتے وۀ او باوجود د ډیرې نرمۍ او تحمل کولو اسلام شاه په دغو اقداماتو مجبور شوے وۀ خو هسې بریښې چې اګر کۀ بدایوني پخپله مهدوي نۀ وۀ خو په پلار ئې د شیخ علائي جادو چلیدلے وۀ او چې کوم وخت هغه ورومبي ځل له بیانې وتے وۀ نو لکه چې بدایوني پخپله لیکي د هغۀ پلار ئې سره د دۀ ملاقات له ورغلے وۀ. بدایوني لیکي چې زۀ دغه وخت ډیر کوچنے وم او زۀ ئې شکل لکه د وهم و خیال یادوم. او بیا چې بدایوني په کوم رنګ دغه واقعات بیانوي نو د شیخ عبدالله او شیخ علائي ذکر په څۀ دغه انداز کوي چې د هغوي په حقله څخو په خوش فهمۍ کښې مبتلا وۀ او څۀ ئې چې د هغوي له مریدانو د هغوي په تعریف کښې او د مخالفینو په غندنه کښې اوریدلي وو هم هغه شان ئې بې د انتقادي شعور له څۀ اظهاره بیانوي. اسلام شاه به پخپله څۀ عالم او لوستے سړے نۀ وۀ خو دومره بې خبره هم نۀ وۀ چې کوم وخت شیخ عبدالله نیازي آیت مبارک "ربنا اغفرلنا ذنوبنا الخ" لوستلو نو مخدوم الملک نه ئې پوښتنه وکړه چې څۀ وائي. (بدایوني اردو ترجمه ص ۲۶۶ تر ۲۷۶ ن ز و ن ح جلد ۱ ص ۳۷۸ تر ۳۸۵ او ائمه تلبیس یا غارتګران ایمان ص ۲۹۴ تر ۳۱۸)

په هر حال د شیخ عبدالله نیازي واقعه او د شیخ علائي واقعه په ترتیب د اسلام شاه له مرګه (۹۶۰-۱۱۶۱هجري) پینځۀ او درې کاله اګاهو وه او د هر یوې نوعیت دغسې وۀ لکه چې بیان وشو. او د اسلام شاه مرګ نۀ خو د شیخ عبدالله نیازي او نۀ د شیخ علائي یا د پلار شیخ حسن ئې (یا د بل کوم شیخ حسن بختیار) د خرق عادت نتیجه وه.

۳. ن ز ص ۱۳۳/۱،۲ و ن ح جلد ۱ ص ۳۷۴، ۳۷۵ "بست و ششم ماه ذی الحجه ۹۶۰ ستین و تسعمایه" یعني

۲۶ ذي الحجه ۹۶۰ هجري. ډورن ۲۶ ذي الحجه ۹۶۱ هجري. فرشته جلد ۱ ص ۱ "ستين و تسعمايه" خو فرشته په مخ ۲۳۲ د تاريخ وفات د مادې په حقله چې خواجه نعمت الله هم نقل او طاهر دکني ته ئې منسوبه کړې ده او په مخ راتلونکې ده. ليکي "----وپدرمؤلف اين واقعه از زوال خسروان اعداد ا۹۶۱ دی۔" هر کله چې د اسلام شاه مرگ د ۹۶۰ هجري د اخري مياشت په شپږويشتم تاريخ شوے وۀ يعنې ۹۶۱ هجري نه څلور يا درې ورځې اګاهو نو دې دپاره داسې مادۀ تاريخ چې اعداد ئې ۹۶۱ وي ناموزونه به نۀ وي.

۴. لکه چې عرض وشو فرشته د دې تاريخ د مادې موندونکے خپل پلار ياد کړے دے. د ن ح فاضل محشي د دې قطعې شاه طاهر دکني ته نسبت محل نظر ګڼي. او د بدايوني او ځنې نورو اسنادو په بنا ئې د مير سيد نعمت الله د طبيعت اثر ګڼي. وګورئ ن ح جلد ۱ ص ۳۸۶، ۳۸۷ سره د حواشي او بدايوني اردو ترجمه ص ۲۷۹).

صـ ۱۵۹

د دې قطعې د دويم شعر دويمه مصرعه ن ز ص ۱/۱۳۷ او ن ح جلد ۱ ص ۳۸۶ کښې د پښتو نسخو نه او هم له يو بلې مختلفه او داسې ليکلې ده.

ن ز — که فرزند عزيز شير خان بود.

ن ح : — که در هندوستان صاحب قرآن بود. د ن ز مصرع لکه چې د ن ح فاضل محشي ليکي د ابوالفضل د تصرف نتيجه ده. چې د صاحبقرآن نامه ئې د شير شاه په زوي اسلام شاه نۀ شوه پيرزو او هم دغسې د دې خبرې منلو ته هم نۀ وۀ تيار چې هندوستان د اسلام شاه له قبله ګلستان وۀ.

د اسلام شاه د شخصيت مختصره جائزه

اسلام شاه د هندوستان په پښتنو اُورنګ نشينانو کښې اخري حکمران دے چې لويو فرمان روايانو کښې ئې شميرلے شو. هغه ډير مړنے، زړۀ ور او توريالے او ورسره لوے تدبر او د صائبې رائ څښتن، د ډير ربط ضبط خاوند او ډير رعيت پرور وۀ. خواجه نعمت الله په تاريخ خان جهاني کښې ليکي چې : " درشجاعت وشهامت اسلام شاه هيچ کس راسخن نبود ودر تدبير و جهانداری ورائے صواب نمائے سبقت از اکثر سلاطين ايام داشت۔" (ن ز و ن ح جلد ۱ ص ۳۸۵) او له دې اګاهو "اسلام شاه بادشاه عاقل وکامل وفاضل رائے وصاحب تدبير وخداترس ورعيت پرور بود۔" سره د دنياوي امورو د ډيرو صلاحيتونو او د باچاهۍ د ذمه وارو صرف دا نه چې د دين له کارونو غافل نۀ وۀ بلکې په ډيره پابندۍ ئې په ځائے راوړل. بدايوني ليکي چې هغۀ د هيڅ قسمه نشه چرې نۀ وه کړے او د مانځۀ د پابندۍ ئې دا حال وۀ چې هيچرې ئې باجماعته مونځ نۀ وۀ قضا کړے. د انصاف

پسندی ئې دا حال وۀ چې يو خلې يوازې په اس سور د مان ګړهـ کوټ لوري ته روان وۀ چې يو سړے راغـے او پرې ئې د تورې ګزار وکړو بادشاه دغه ګزار د اس شړلو کرورې سره رد کړو ورکوز شو او هغه سړي سره امبړ چمبړ شو په دې کښې د سزاول خان زوے دولت خان (اجيالا) وروړسيد. نور خلق هم راغلل او هغه سړے ئې ونيو لکه چې نن صبا هم انتظامي او خفيه پوليس د سياسي نوعيت معاملو کښې د خپلې کارګزارۍ ښودلو دپاره "پوچهـ ګچهـ" (پوښتنه اتنه) کوي او د يوۀ ګنهګار سره (او يا کۀ بې ګناه هم وي) د نورو ډيرو بې ګناهو بيخ بنياد وباسي. د حمله آور نه تپوس شروع شو چې تا دا کار د چا په وينا کړے دے. اسلام شاه وفرمايل چې دا تپوسونه پريږدئ ګوندې دا بدمعاش په دروغو د ډيرو بې ګناه خلقو خونې ورانې کړي او د دۀ د قتلولو حکم ئې وکړو. او د زوړ خدمت او د خپلې مهرباني لحاظ کولو اندازه ئې دې نه وکړئ چې کومه توره حمله آور سره نيولې شوې وه هغه توره وه چې بادشاه خپل يوۀ سردار اقبال خان له ورکړې وه. اقبال خان يو معمولي سړے او د اسلام شاه د مهربانۍ له قبله ښو لويو مراتبو ته رسيدلے وۀ. اسلام شاه له چې مشوره ورکړې شوه چې د دې جرم په لړ کښې دې اقبال خان هم ووژلے شي نو وې وئيل چې د خپل پاللي په وژلو ماته شرم ولاړيږي او صرف د هغۀ د درجې په کمولو ئې اکتفا وکړه. (بدايوني ص ۲۷۷ او ۲۸۰ او د خپل کتاب ص ۱۵۶) شيخ عبدالله نيازي او شيخ علائي سره چې کوم سلوک هغۀ کړے وۀ ترې جوتيږي چې په سختو سزاګانو ورکولو کښې به ئې ډير د تامل نه کار اخستو او صرف هغه وخت ئې ورکولے چې معامله به د برداشت له حده تيره شوه.

خبرې اترې به ئې ډيرې ښکلې او مجلس به ئې ډير سپيځلے وۀ. اکثر به ئې چې څۀ خبره به تر منځه راغله د هغې په حقله به ئې مناسب شعر ونه وئيل. د شيخ سعدي صاحب ګلستان او بوستان او د خواجه حافظ صاحب اکثر اشعار ئې ياد وو د عالمانو ډير قدردان وۀ او اکثر به ئې ورسره صحبت او مجلس درلۀ. د شريعت پابندی کښې ډير کلک او هيڅ قسمه بدعت برداشت کونکے نۀ وۀ. (تاريخ خان جهاني ن ز و ن ح جلد ۱ ص ۲-۳ تر ۳۷۸) د ن ح فاضل محشي د افسانۀ شاهان په حواله ليکي چې اسلام شاه بادشاهي محل ته نزدې يو عمارت جوړ کړے وۀ چې د وخت عالمان لکه مير سيد منجهن، شاه محمد حياتي سيفي او سورداس به هورې راتلل او په شعر کښې به ئې طبع آزمائي کوله او علمي مباحثې به ئې کړے. اکثر به سلطان پخپله هم دغو مجلسونو ته راتلو د هندی مشهور شاعر محمد شاه هم د اسلام شاه درباري وۀ. (ص ۳۷۶ حاشيه ۱)

سره د ډيره رعبه، ربطه او ضبطه پخپله به ئې هم خوش طبعي کوله او د مل له خوش

طبعي به ئې هم لطف اخستو. يو خل بادشاه د لښکريانو باقي دار شو شاه محمد رفيق چې لوړ امير او د اسلام شاه ... مصاحب وه ورته ئې ووې چې صاحبه د شپيه مې خوب وليد چې درې بوخخکی له اسمانه راکوزې شوې په يوې کښې خاورې، په دويمه کښې زر او په دريمه کښې کاغذ وه. خاورې ... د لښکرې په سر توئ شوې زر هندوانو کره لاړل او کاغذ د باد... اه خزانې ته اسلام شاه نه دې تپوقې دومره خوند ورکړو چې وې فرمائيل چې څنګه له کو...اياره راست... شم د لښکريانو د دوؤ کالو تنخواه به ورکړم. (د ن ح جلد ۱ ص ۳۷۶ حاشيه په حواله د منتخب التواريخ). د منتخب التواريخ مؤلف ملا عبدالقادر بدايوني ليکي چې يو خل ئې ولېدل چې مخدوم الملک راروان دې مصاحبان ئې وپوښتل چې خبرياست چې دا ... ړک دې هغو ووئيل چې هم تاسو ووايئ. وې وئيل چې د بابر پينځه زامن وو څلور ...ه هندوستانه ووتل خو دا پينځم پاتې دې. سرمست خان عرض وکړ چې دې مو ولې پرېښې دې وې وئيل چې څه وکړم د دۀ نه ښۀ سړې مې تر نظره بل نۀ دې راغلې چې مخدوم الملک مجلس ته راورسيد نو بادشاه خان سره په تخت کښيناوه او د ديرشو زرو روپو د ملغلرو تسبيح ئې ورله ورکړه. (بدايوني اردو ترجمه ص ۲۷۹، ۲۸۰)

بدايوني ليکي چې د خپل عهد هم په ابتدائي دور کښې اسلام شاه د خپل لوړ شاني پلار د جوړو کړو سرائ ګانو تر مينځه هر خائې يوه يوه سرائ بله جوړه کړه او په ديو کښې د جماتونو، خانقاهونو او آبدار خانو دپاره هم انتظام وه. عام لنګرونه ئې هم جاري کړي وو چې پکښې به مسلمانانو لره پخ کړې شوې طعام او هندوانو لره به غله ورکړل کيدې شوه. او حکمنامې د ... راز له محلونو د پاتر بازی اکهاړې نړې کړې چې په هندوستان کښې ډير رواج وه. په هر سرکار کښې ئې حکمنامې جاري کړې وې چې پکښې د ديني دنياوي مالي ملکي جزوي کلي ګردو معاملاتو په حقله قوانين درج وو او د هغو طريقو پکښې ښۀ وضاحت وه چې په معاملاتو کښې ئې فوځ، رعيت او تاجران پابند وو د حاکمانو دپاره ئې هم تفصيلي لائحه عمل لرلو چې د ګردو امورو په باب پکښې قوانين درج وو دغه لائحه عمل دومره مکمل وه چې شاذ به حاکمانو ته مفتي يا قاضي وته د رجوع ضرورت پيښيدو. (منتخب التواريخ اردو ترجمه ص ۲۶۱، ۲۶۲)

۲ ن ز ص ۱۳۸ ۲ و ن ح جلد ۱ ص ۳۹۰ ايضاً، ډورن حصه ۱ ص ۱۷۱ شمس خان ورور د خواص خان.

۳. د مشرقي پنجاب د ګوړ ګاؤن په ضلع کښې د ګوړ ګاؤن د قصبې، او دهلي ښار دواړو نه جنوب مغرب ته واقع ده.

۴. طهماسپ شاه ایران.

ص ۱۶۰

پوره قطعه چې مولانا قاسم کاهي وئیلې ده داسې ده:

همایون بادشاه ملک معنیٰ کس چو شاہنشہی
زبام قصر خود افتاد ناگہ وزان عمر عزیزش رفت
پئے تاریخ کاہی رقم همایون بادشاه بام افتاد

(منتخب التواریخ بدایوني اردو ترجمه ص ۳۰۸، ۳۰۹) ۹۶۳ هجري مطابق ۱۵۵۶ ء.

۲. کلانور. د دغه نوم یوه قصبه د مشرقي پنجاب د رهتک او بله د گورداسپور په ضلع کښې ده. د سمتهـ "دي اکسفرډ هسټري آؤ انډیا" (دریم ایډیشن ۱۹۶۴ ء ص ۳۳۷) او د سمتهـ "اکبر دي گریټ مغل" ص ۲۳ حاشیه ۲) له رویه دغه کلانور د گورداسپور له قصبې ۱۵ میله مغرب رویه واقع دے. او وگورئ خافي خان جلد ۱ ص ۱۲۷ چې دغه کلانور د لاهور د صوبې له متعلقاتو بولي او توزک جهانگیري (اردو ترجمه ص ۶۷) هم د اکبر تخت نشیني د کلانور په پرگنه کښې چې د لاهور له متعلقاتو ده، یادوي. نو له دیو آثارو هم ظاهره ده چې هم گورداسپور کلانور ترې مراد دے. د مغربي پنجاب د لاهور د ضلعې او د مشرقي پنجاب د گورداسپور ضلعې تر مینځه د مشرقي پنجاب امرتسر ضلع حائله ده چې د لاهور شمال مشرق او د گورداسپور جنوب مغرب ته ده. د رهتک ضلع ترې مقابلةً په ډیره زیاته فاصله جنوب مشرق ته پرته ده.

۳. ډورن حصه ۱ ص ۱۷۲ په ځنو کتابونو کښې "سگ فروش" وگورئ ن ح جلد ۱ ص ۳۹۲ او ورسره حاشیه ۲. په ځنو کتابونو کښې سربني او ځنو کښې شرواني (یا سرواني) لیکلي دي. وگورئ ن ح جلد ۱ ص ۳۹۲ حاشیه ۱ خو لکه چې د ن ح د یادې شوې صفحې له متنه ښکاري سربني صحیح دے ځکه چې د بانکي پور خدا بخش لائبریری د نسخې په حواله ورسره "داؤدزي" قبیلوي نامه هم لیکلې شوې ده او داؤدزي سربني دي.

۴. ن ا و ن ب نمسے. ډورن حصه ۱ ص ۱۷۳ "اخښے". ن ز ص ۱۳۹/۲ ن ح جلد ۱ ص ۳۹۳ "ابراہیم خان سور کہ خواہر عدلی در حبالۂ عقد او بود". یعني د عدلي د خور څښتن وۀ. پښتو ترجمې کښې هم په مخ دغه شان راغې.

۵. یعني تللو، روان وۀ.

ص ۱۶۱

مـطـ ن ز ص ۱۴۰/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۳۹۵ او ډورن حصه ۱ ص ۱۷۴. ن ا و ن ب

"رائے جلواني"

۲. اسلام شاه.

۳. ن ز ص ۱۴۰/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۳۹۵ "بهارخان سروانی که به اعظم همایون مخاطب است۔"

۴. ن ز ص ۱۴۱/۱ و ن ح جلد ۱ ص ۳۹۶ "بهره". ډورن حصه ۱ ص ۱۷۴ "فره". او د ن ح متعلقه حاشیه "فره. فراه" وغیره.

صـ ۱۶۲

ن ا و ن ب د خاتمے نامه نهٔ لري. ن ز ص ۱۴۱/۱ "ـــ به موضع مندهار کهرشش کرده آگره" ن ح جلد ۱ ص ۳۹۸، ۳۹۹ "... به موضع مندهار کهر الخ". ډورن حصه ۱ ص ۱۷۵ "منداگر" د فاصلي تعین نهٔ لري.

۲. ډورن حصه ۱ ص ۱۷۵ "پتنه" ن ز ص ۱۴۱/۲ "پنه". ن ح جلد ۱ ص ۳۹۹ "بهته" غالباً چې بهته صحیح دے.

۳. د بهار په سهیل کښې یوه صوبه.

۴. مط ن ز ص ۱۴۲/۱. ن ح جلد ۱ ص ۳۹۹. "ابراهیم خان بموجب عهدوقول سلیمان راملازمت نمود۔" ډورن حصه ۱ ص ۱۷۵ ایضاً. ن ا و ن ب "ورنه راغے . د سیاق و سباق نه غلطي ظاهره ده.

۵. وګورئ د دې خپل کتاب ص ۱۵۴ نوټ ۳.

۶ ن ز ص ۱۴۲/۱ "قیا خان کنک". ن ح جلد ۱ ص ۴۰۰ "قبا خان کنک". ډورن حصه ۱ ص ۱۷۶ "قباد خان ګنک".

۷. ن ز ص ۱۴۲/۱ "باتردي محمد خان" الخ. ن ح جلد ۱ ص ۴۰۰ "باردوي محمد خان الخ". ډورن حصه ۱ ص ۱۷۶ "له تردي محمد خانه".

صـ ۱۶۳

پاني پت ته نزدې جنوب رویه.

۲، ۲ الف. اړخ. فارسي نسخې "پهلو".

۳. زما د وړاندې دواړو نسخو (ن ا و ن ب) کښې نربدا لیکلي دي خو نربدا چې د سیند نوم دے او دغه سیند چې د مالوې جنوب او صوبه جات متوسطه شمال ته شرقاً غرباً بهیږي دلته له بحثه خارج دے. ن ح او ن ز کښې دغه الفاظ نشته. د ډورن انګریزي ترجمه حصه ۱ ص ۱۷۶ کښې "ډنګ هل" (د نجاست وغیره ډیران) دے چې هم "مزبله" لفظ پښتو مترجم یا د ترجمې ناقل په نربدا بدل کړے دے.

۴. د عدلي د شخصيت جائزه:

زما زړه هم د کتو دې چې د سلطان بهلول لودهي، سلطان سکندر کبير لودهي او سلطان ابراهيم لودهي شهيد، شير شاه اعظم سوري او اسلام شاه سوري رحمهم الله تعالیٰ د کردارونو د جائزو اخستو نه پس د تاريخ د يو طالب علم د وظيفې ادا کولو په لړ کښې د عدلي غونډې قام شرمي او د بنو مړنو د کتهنو د ضائع کونکي او ورکونکي د کردار په جائزې اخستو د قلم او کاغذ په ابته کولو مجبو يم. ګوټې مکوټې دا هومره وئيل بس دي چې پښتون د ډمامو شي او خنګه چې بريښنې نو ليدو لړه ئې د عدلي د کردار نه زياته صفا آئينه نشته. په پښتنو کښې تربور لګي تربور وژني تره او وراره هم وبله مرګ ژوبله کوي خو خوريې د ماما او ماما د خوريې وينې تويولو ته نه پاسي. دا هم عدلي وه چې خپل ماشوم خوريې ئې د هغه د مور او خپلې خور د سترګو د وړاندې د هغې په نارو سورو کښې ووژلو. په دغه نابکار او بې هنره کښې که څه هنر وه نو بس هم دغه چې لکه بدايوني ليکي د علم موسيقی بنه ماهر وه او که هر څو موسيقي لوړې هنر او لطيف فن دې او د بنو ميړونو سره هم نا بنائيلې نه خو بل چا سره داسې نه بنائي لکه پښتون سره چې د ډمامو شي.

۵ ډورن حصه ۱ ص ۱۷۷ "دې د شجاعت خان زوې وه. د هغه اصل نوم اسماعيل خان وه او شير شاه په شجاعت خان بدل کړو " الخ

ص ۱۶۴

د وسطي هند د مالوې علاقه اوجين ته نزدې جنوب مغرب ته او د ماندو شمال او د اندوړ شمال مغرب ته.

۲. ن ز ص ۱/۱۴۴ و ن ح جلد ۱ ص ۴۰۶ ايضاً "مصطفیٰ خان ودولت خان هزيمت يافته رو بفرار نهادند وبه زمينداران درآمدند." ن ز "به زميندار" ډورن حصه ۱ ص ۱۷۷ "د مالوې د خوا د زمينداراتو په پناه کښې."

۳. ن ز ص ۱/۱۴۴ و ن ح جلد ۱ ص ۴۰۶ و ډورن حصه ۱ ص ۱۷۷،

۴. ن ا "..... دره چې سخت ځائې" الخ. ن ب "..... وره غره چې سخت ځائې" الخ. ن ز و ن ح "رانی فرمود پنجاه وشصت هزار سوار گوندگها تہاے کوه را گرفتند وجنگ انداختند." يعني د رانی په حکم پنځوسو شپيتو زرو ګونډوانو سورو د غره غونډې ونيوې او جنګ ئې ولګاوه. ډورن حصه ۱ ص ۱۷۸ د رانی سپاهيانو يوه تنګه لار ونيوه.

۵. مط فارسي نسخې. ډورن حصه ۱ ص۱۷۸ "ادهم خان کوکه". پښتو نسخې "آدم خان کوکه".

۲ ن ا "بکـاور". ن ب "بکلاؤ". ن ز ص ۱۴۴/ ۲ "بہ راجہ ولایت بگلانہ پناہ برد" ن ح جلد ۱ ص ۴۰۷ "بہ راجہ ولایت بگلانہ پناہ برد" ډورن حصه ۱ ص ۱۷۸ "بنګال".

بګلانه یا بګلانه نومې علاقه د ریاست حیدر آباد دکن شمال مغرب ته ده. په پیرنګواله کښې په ۱۸۱۸ ء کښې د بمبی صوبې په خاندیس کښې، او په ۱۸۶۹ ء کښې په ناسک ضلع کښې شامله کړې شوه. مشرقي او مغربي خاندیس (دواړه) ناسک او احمد نګر د بمبی د صوبې ضلعې دي. د وړومبو دوؤ د ضلعو د انتهائي شمالي برخو نه ناسک ضلع جنوب مغرب ته او د حیدر آباد د ریاست د اورنګ آباد ضلعې نه مغرب ته او د بمبی د احمد نګر ضلعې نه شمال مغرب ته ده.

ص ۱۶۵

مط ن ب ص ۱۴۵/ ۱ و ن ح جلد ۱ ص ۴۰۷. پښتو نسخې "ګرز زن".

۲. دلته ن ا، ن ب "بنګاله". ډورن حصه ۱ ص ۱۷۸ "بنګال".

۳. د بګلانې شمال مغرب او د مالوې مغرب ته.

۴. ډورن حصه ۱ ص ۱۷۹ ایضاً. ن ز ص ۱۴۵/ ۱ و ن ح جلد ۱ ص ۴۰۸ "نظام الملک دکهني".

۵. ډورن "رانا لره کو ګونده ته لاړ". ن ز ص ۱۴۵/ ۱ و ن ح جلد ۱ ص ۴۰۸ "پیش رانا در قلعه کونبهلیر آمد" یعنې رانا لره کونبهلمیر کوټ ته راغې. ګولکنډه خو د دکن مشهوره علاقه او ښار دې. چې حیدر آباد ته غرباً شمالاً او له ګلبرګې شرقاً شمالاً واقع دې. خو د نظر د وړاندې خانې هم کونبهلمیر صحیح ښکاري. رانا د میواړ (راجستهان) د راجګانو مخصوص لقب دې. او کونبهلمیر د اودې پور (میواړ) یو کوټ دې.

۶ ن ب "قصبه صبیب". ډورن (حصه ۱ ص ۱۷۹) "چپرمو". ن ح جلد ۱ ص ۴۰۹ " چهپرامو که چهل کروہے از دار السلطنت آگرہ وسی کروہے از قصبہ قنوج واقع است بایکدیگر رسیدند" الخ. د ن ح فاضل محشي (حاشیه ۱ د یادې شوې صفحې) د امپیریل ګزیټیر جلد ۱ ص ۲۴ په حواله لیکي چې "چهپرامو واقع است در ضلع فرخ آباد بہ بعد وہ میل جنوب غرب ہی فتح گڑھ در ہشتاد میلی مشرق آگرہ". یعنې چهپرامو د فرخ آباد په ضلع کښې له فتح ګړهه اتلس میله سهیل لویدیز لورې اتیا میله ختیز ته له آګرې".

بایـد چې د ن ح د فاضل محشي د خیال او بیان په عکس او مرسته قرائن او دلائل ښاغلو لوستونکو ته وړاندې کړو او باید چې وړومبې دا وضاحت هم وکړو. چې د امپیریل ګزیټیر د جلد ۱۰ په ص ۲۰۴ د یادې شوې صفحې په یادې شوې حاشیه کښې وئیلي شوي دي.

(۱) زمونږ د نظر د وړاندې ځائے "چهبرامو". (پ ساکنه م مفتوح او وروستے حرف چهـ هم غالباً مفتوح) دے. د فرخ آباد د ضلعې ځائے "چهبرامو" دے. يو خو دويم حرف د پ په ځائے ب دے او لکه چې ئې په امپيريل گزيټيئر کښې تلفظ شوے دے. وروستے حرف چهـ ئې مکسور دے.

(۲) لکه زمونږ په نسخو کښې چې ليکلي دي تاج له گواليار د بهار او بنگال په لور تښتيدو او هم دغه څۀ په ن ز او ن ح کښې هم دي. البته د بهار او بنگال په ځائے تيښته بنگال ته بيان شوې ده. خو دې سره هيڅ فرق نۀ راځي. يو سړے کۀ له گواليار و بنگال ته ځي نو په هر حال به له بهاره تيريږي.

(۳) د آگرې نه مشرق ته د مين پورې ضلع ده. او د مين پورې او آگرې دواړو مشرق شمال مشرق او جنوب مشرق ته د فرخ آباد ضلع ده. مين پورې ښهر د آگرې نه مشرق ته او فتح گړهـ او فرخ آباد (يو تر بله نزدې ضلع فرخ آباد) د مين پورې ښهر او آگرې ښهر دواړو نه شمال مشرق ته دے. د فتح گړهـ نه اتلس ميله جنوب مغرب به د آگرې مشرق وي. گواليار (له کومه ځايه چې تاج تښتي) د آگرې جنوب ته تقريباً اويا اتيا ميله لرې پروت دے. اوس نو کۀ څوک له گواليار په تيښته بهار بنگال لورې نه مخه کوي نو په ځائے د دې چې د گواليار، بهند، ايټاوه او بيوار (فتح گړهـ ته نزدې جنوب مغرب) په لار شاهراه ته د گواليار نه شمال مشرق ته راووځي نو دا به ورته زياته آسانه وي چې د گواليار، جهانسي (جنوب مشرق) او بيا د کانپور (شمال مشرق) په لار شاهراه ته راووځي او جنوب مشرق او بيا مشرق ته د بهار او بنگال لاره واخلي. د کانپور، الهٰ آباد، بنارس او سهسرام په مينځ کښې ډيرې لارې له شاهراهه د بهار صدرمقام پټنې وته وتي دي. پټنې ته نزدې مغرب څخو شمال (د حاجي پور مغرب) ته چهپره پرته ده. د چهپره نه مغرب ته مؤ او د دې مؤ نه ورته زيات نزدې بل مؤ مشرق ته هم شته او له دې ځايه جنوب مغرب ته يو بل ځائے مووه هم شته. (وگورئ د الفنسټن تاريخ هند سره لگيدلې نقشه او روډميپ آو انډيا ۱۹۲۸ء).

(۴) بيا د تاج د شکست خوړلو نه پس و بهار طرفته د روانيدو نه معلوميږي. چې دلته د بهار نه مراد د بهار صوبه نه بلکه بهار قصبه ئې مراد ده. ځکه چې د بهار او بنگال علاقو يا صوبو د رجوع ذکر خو وروستې شوے دے. نو د بهار قصبه د چهپره او پټنې نه جنوب مشرق ته واقع ده. بلکه ن ز او ن ح (جلد ۱ ص ۴۰۹) خو د بهار په ځائے "قلعه چنار" ليکي. چې د چهپره نه جنوب مغرب ته دے. په هر حال بهار قصبه او چنار دواړه

خایـونـه د فرخ آباد د چهبرامؤ نه ډیر لرې دي. او چهبره (چې دوه مؤ ګان ورته مشرق رویـه مغـرب رویـه نـزدې پـراتـهٔ دي) بهـار او چنار دواړو ته د فرخ آباد د چهپرامؤ په مقـابـلـه کښې ډیره زیاته نزدې ده. د دغو یادو شوو خایونو نه علاوه ورپسې د خواص پور ټانډې ذکر هم نغوته کوي چې ټول د بهار د صوبې ماحول دے.

د دیـو مخالفو قرائنو په عکس د ن ح د فاضل محشي د خیال او بیان په حقله لاندینی خبرې ډیرې اهمې او د پام وړ دي.

(۱) د ن ز او ن ح پـه متـن کښـې د غـور لاندې "چهپره مؤ" فاصلې په ترتیب له آکرې څـلـویښـت او لـه قـنوج دیرش کروهه بیان شوې دي. (د فرخ آباد چهبره مؤ د قنوج نه شمال مغرب او لکه چې اګاهو وئیلي شوي دي. له آکرې مشرق ته دے).

(۲) بیـان شـوو فـاصـلـو کښې کهٔ څهٔ فرق وي هم نو به ډیر لږ وي. او تقریباً صحیح به وي. پـه شرط د دې چې مونږ د نظر د وړاندې خائے چهبره مؤ ضلع فرخ آباد وګنو. او کهٔ نه نو بیا دغه فاصلې چې په تاریخ خان جهاني کښې ښنیلي شوي دي، غلطیږي. ولې چې د بهـار چهپـره او مـؤګـان او مـووه ټول د آکرې او قنوج د هر یوهٔ نه په ډیره زیاته فاصله واقع دي.

(۳) د فـرخ آبـاد چهبرامؤ یو نوم هم د یوهٔ خائے دے. او د بهار چهپره ، مؤګان او مووه بیـل بیـل نـومـونـه د بیـلـو بیـلو خایونو دي. او اګر کهٔ ځنې وخت دوه خایونه د نامو په ګـډون او یـو والـي یو خائے یادیږي لکه د یو پي کړه او مانکپور چې اکثر بلکې مدام هم پـه یـوه نـامـه کـړه مـانـکپور یادیږي او یا د بهار خواصپور ټانډه خو د بهار د چهپره او مؤګانو په حقله داسې شهادت زما په علم کښې نشته. والله اعلم بالصواب.

۷. مط ن ز ۱۴۵/۲ و ن ح جلد ۱ ص ۴۰۹ و ډورن حصه ۱ ص ۱۷۹ ۱ "چا په جور". ن ب "چانچور".

۸. مـط ن ز ۱۴۶/۲ و ن ح جـلـد ۱ ص ۴۱۲. پښتـو نسـخـې " جهـد رام". خـو پـه مـخ ص ۱۶۶ ۱ "جـدرام". ډورن دا مـرکـب لـفـظ چـې د سـړي نوم دے،"جدّ رام" لوستے دے. او تـرجـمـه ئـې انګـریـزی کښـې ورسـره سمه "ګرینډ فادر آو رام". یعني د رام نیکهٔ کړې ده. (حصه ۱ ص ۱۷۹).

صـ ۱۶۶

. د پټنه په خوا کښې شمال ته.

ص ۱٦٧

دلته په ن ح (جلد ۱ ص ۴۱۵) کښې د بانکي پور خدابخش لائبريري او ايشياټک سوسائټي کلکته د نسخو په بنا ځۀ عبارت زياتي ورکړے دے. چې مطلب ئې دا دے چې هر چا له لوټ کوونکو هغه بتان اخستي وو. ژوندي پاتې نۀ شو او هم د سوسائټي د بوې بلې نسخې په بنا په حاشيه ۲ کښې نور عبارت هم ورکړے شوے دے چې په ديو کسانو باندې دې دپاره تباهي راغله چې دوي د دنيا د نفعې دپاره بتان خان سره وساتل او د اسلام د احکامو نافرماني ئې وکړه. او دې ته ئې ونۀ کتل چې الله تعالىٰ مومنانو لره د بتانو استعمال او ساتل ئې منع کړي دي. اه ـ خوک د دغو کسانو هلاکت د بتانو کرامت وګڼي. نو کافر به شي. بتان ځۀ او کراه ـ ـ سې ځۀ کۀ پکښې ځۀ وے نو د هر چا وړومبے به سليمان خراب شوے وۀ.

۲. يعني معلومه نۀ دہ چې خومره ړوتے وۀ. او څومره پکښې پاتې ۰ۀ. خو چې خومره خرمنه نی ـ زار ـ ښې بيا موندل شوه درې سوه ډالونه ترې د توپ ساز شول.

۳. د غير مکرر مطلب خو دا دے چې تکرار ئې نۀ وي شوے، دوباره درې باره وغيره يعني بيا نۀ وي شوے نور عبارت مطلب به دا وي چې دا داسې واقعې دي چې بيا په ليدو آوريدو کښې نۀ دي راغلي. ليکن ډورن (حصه ۱ ص ۱۸۱ و ۱۸۲) د دغه ځائے ترجمه د.ـې کوي چې دا يقيني نۀ ده چې دا دوه واقعې يوه د جګناتهـ د استيصال او بله د اژدها د سليمان په وخت کښې شوې وے. د عبارت دغه برخه په ن ز يا ن ح کښې نشته.

۴. ن ز ۱۴۸/۱ و ن ح (جلد ۱ ص ۴۱٦) د ډورن (حصه ۱ ص ۱۸۲) "بايزيد"

۵. دا نوم پښتو نسخو کښې "هنو" او ن ز، ن ح او ډورن کښې "هنسو" دے د ن ح له حاشيې معلوميږي چې په ځنو نور نسخو کښې هم "هنو" او هم "هتو" راغلے دے.

٦. پښتو نسخې او ډرون (حصه ۱ ص ۱۸۲) "منعم خان او خالخانان" منعم خان خان خانان يو سړے دے.

۷. پښتو نسخې "مخالفت".

ص ۱٦۸

. پښتو نسخې "کهور ګهاټ". ډورن "کهوره ګهاټ". ګهوړا ګهاټ، د کروتيا رودګي په ګسه غاړه د ديناج پور په ضلع کښې د رنګپور په سرحد آباد دے.(ن ح جلد ۱ ص ۴۱۹ حاشيه ۲). ديناج پور اورنګ پور د بهار پودينه ضلعې سره دي. نمرخاتۀ ته ترې ديناج پور، او بيا ترې نمرخاتۀ ته د رنګ پور ضلع ده. چې دواړه مشرقي بنګال کښې دي.

۲. ن ز ۱۵۰/۱ "محمد قيا خان کنک" ن ح جلد ۱ ص ۴۲۱. محمد قبا خان کنک. ډورن

(حصه ۱ ص ۱۸۳) قباد خان گنگ.

۳. دلته د مخزن افغاني ترجمه ختمه شي او په مخ تر تذکرة الاولیاء کۀ هر څو افضل خان له نورو مختلفو کتابونو استفاده کړې ده. او ډیرې برخې ئې د خوشحال خان بابا له بیاضه عیناً نقل کړې دي. د افضل خان خپل تالیف دے. له تذکرة الاولیاء به بیا د مخزن افغاني ترجمه شروع شي. خو ورسره به د افضل خان خپلې اهمې اضافې هم ولید شي. تاریخ خان جهاني د خواجه نعمت الله او هیبت خان کاکړ د مربې مفصل حال لري. او افضل خان هم د خان جهان حالات بیانوي خو د تاریخ خان جهاني نۀ دي. بلکه ځنې اهم واقعات پکښې د تاریخ خان جهاني مخزن افغاني د تالیف له زمانې وروستو وختونو سره تعلق لري.

ص ۱۶۹

د خان جهاني لودي شجره:

ملک احمد لودي

دولت خان	(مشهور په شیر خان او درې زامن نور)
عمر خان	(او شپږ زامن نور)
دولت خان	(پنځۀ زامن نور او یوه لور)
پیر خان	مخاطب به صلابت خان، فرزند خان او خان جهان

د پیر خان زامن: رستم خان، بایزید خان، حسین خان، عظمت خان، دولت خان، محمد خان، موسی خان، عزیز خان، فرید خان، عالم خان، احمد خان، خان جهان

چې جهانګیر بادشاه شو نو له اوله خو ئې پیر خان لره د صلابت خان خطاب او د سه هزاري ذات و هزارو پنجصد سوار منصب و کړو. او بیا ئې څۀ موده پس ورلره د فرزند خان خان جهان خطابونه او پنج هزاري منصب ورکړ. خان جهان د هفت هزاري ذات هفت هزار سوار دواسپه، سه اسپه منصب د شاهجهان د عهد په اوائل کښې بیا موندلے وۀ. وګورئ توزک جهانګیري اردو ترجمه ص ۱۴ ا تر ۱۱۶، ن ح جلد ۱ انګریزي مقدمه له محشي په ص ۸۴ د خان جنهان شجره. په متن جلد ۲ ص ۵۴۲. ۵۴۳ کښې اتۀ زامن داسې راغلي دي "اول رستم خان لقب بادشاهی اصالت خان - دوم بایزید خان لقب خان جهان - سوم حسین خان لقب بادشاهی لشکر خان - چهارم عظمت خان - پنجم دولت خان - ششم خان جهان - هفتم موسی خان - هشتم هیبت خان - کہ اکثر به خطاب بادشاهی معزز گشته اند" ششم خان جهان په حاشیه کښې جهان خان لیکلے شوے دے د توزک جهانګیري (اردو ترجمه) په یا سوي خائے کښې مشر دولت خان د پیر خان د پلار ترۀ باد شوے دے او وګورئ ن ح جلد ص ۴۹۲. ۴۹۳ سره د ص ۴۹۳ د حاشیه ۱ او ۲. بادشاهنامه جلد ۱ ص ۱۸۲، آثر الامر

جلد ا د خان جهان سوانح عمري.

۲. اکبر باچا ته التجا راوړنکي او ورته د قندهار حواله کوونکي مظفر حسین مرزا وُ. دا د ۱۰۰۳ هـ (۱۵۹۵ ء) واقعه ده. په دغو شپو ورځو کښې يو خوا خو مير معصوم له پنړيز پښتنو د سيوئ د کوټ په نيولو مکران او کوئټه بلوچستان د اکبر باچا د واک لاندې راوستل او بل خوا د کوئټې او بلوچستان سرحد سره هر کله چې د قندهار ايراني گورنر مظفر حسين مرزا داخلي جګړو کښې اخته او د اوزبکو له چپاوه په خطره کښې وُ له اکبره ئې خواست وکړو چې خوک دې د قندهار په نيولو وټاکي. د اکبر په خواهش او حکم شاه بيگ خان تـه قندهار وسپارلے شو. ۱۶۲۲ ء کښې د جهانگير په عهد کښې ايرانيانو قندهار بيا واخست. ۱۶۳۸ ء کښې د شاهجهان په عهد کښې بيا د مغلي هندوستان د تاج او تخت تر سيوري لاندې شو. او په ۱۰۵۹ هـ (۱۶۴۹ ء) کښې چې هم د شاهجهان عهد وُ. ايرانيانو له مغلو بيا ونيو چې بيا ئې تـري پـه اخستـل مـغـل و نـهٔ تـوانيـدل. ("اکبر دي گريټ موگل" ص ۱۸۲ او "دي کيمبرج شارټر هسټري آو انډيا ص ۱۹۲").

۳. زما د وړاندې پښتو عبارت کښې "شاه عنايت."

۴. مـط ن د. ن ا "زيـنـل". ن ب دا ځائے نهٔ لري. د خافي خان منتخب اللباب حصه ا متن ص ۳۰۲، ۳۰۷، ۳۲۷، ۳۵۲، ۳۵۷. "زيـنـل خـان ايـلـچـئ شـاه ايـران". او دويمې حصې سره لـگيـدلـي انـډکـس. "زيـنـل خـان ايـلـچـئ شـاه ايـران". توزک جهانگيري اردو ترجمه ص ۴۰۳، ۴۲۰، ۴۵۷. "زنبل بيگ".

۵. خـافـي خـان (مـنـتـخـب اللباب حصه ا ص ۵۵۳. ۵۵۴) ليکي چې د ډير قرب او فرزندئ د دعـوې لـه قبـلـه خان جهان قندهار ته په تلو کښې هغه دغه وکړل او خپل رشته دار عبدالعزيز خـان لـره ئې د قندهار کوټ وغوښت. زينل خان چې دا وليدل نو د ايران بادشاه ته ئې وکښل چې په قندهار حمله وکړي. او هر کله چې عبدالعزيز خان ته خان جهان په وخت کومک ونهٔ رسـاوهٔ نـو عبـدالعزيز خان يوه نيمه مياشت خو مقابله وکړه خو آخر ترې کوټ ايرانيانو ونيو په دغه شپو ورځو کښې هر کله چې د نور جهان بيگم ملکې او شهزاده خرم (پسته شاهجهان بـادشـاه) د اختـلاف لـه قبله د شهزاده او د جهانگير باچا ترمينځه جګړه ولاړه شوې وه. خان جهـان د بـاچـا و حـضـور ته راغے. خو د جهانگير له خپله بيانه هسې بريښي چې د جهانگير د خـوش فهـمـي او پـه وخـت د مـنـاسب اقدام نهٔ کولو په وجه کار له لاسه ووت. او باوجود له قـنـدهـاره د اطـلاعاتو تر هغه وخته جهانگير په دا باب څهٔ اقدام ونهٔ کړو. تر کومه چې د خان جهان عرضداشت ور ونهٔ رسيد چې د ايران باچا د قندهار محاصره وکړه. جهانگير د مختلفو

علاقو باجهي فوځونو ته په لاهور کښې د جمع کيدو حکم کولو نه پس خان جهان لره چې په ملتان کښې وۀ وکښل چې تر څو بادشاهي فوځونه نۀ وي در رسيدلي قندهار لوري ته دې حرکت نۀ کوي. او د دويم حکم منتظر دې وي.(توزک جهانګيري اردو ترجمه ص۴۰۸) په اول تاريخ د شهريور د مياشتې د شهزاده شهريار د قندهار په مهم تعيناتي وشوه(ص ۴۱۲). په ۲۶/ آبان خان جهان حسب الطلب په لاهور کښې و حضور ته راغے او بيا ملتان ته رخصت کړے شو. او ورته دا حکم هم وشو چې د شهزاده شهريار تر ور رسيدو دې هم ملتان کښې وي. او د بل حکم انتظار دې کړي. اوس کۀ د محاصرې نه پس په يوه نيمه مياشت کښې لکه چې خافي خان ليکي ايرانيانو عبدالعزيز خان ته د کومک نۀ رسيدو په وجه قندهار نيولے وي نو په داسې حالاتو کښې چې جهانګير د پلار نيکۀ د تعلقاتو له مخه په خوش فهمو کښې مست پروت وۀ. (ص۴۰۷) او تر هغه وخته ئې هيڅ حرکت نه وۀ کړے تر څو چې د محاصرې اطلاع له قندهاره خان جهان لره ملتان ته او له هغه ځايه جهانګير ته رسيده او بيا هم خان جهان لره حکم وۀ چې د ګردو باجهي فوځونو ملتان ته د رسيدو او تر دويمه حکمه دې هيڅ حرکت نۀ کوي. نو خان جهان څۀ کړے وے. په هر حال په دغه لړ کښې جهانګير نۀ خو په خان جهان څۀ الزام لګوي. او نۀ ئې د قندهار د بائلات دپاره په څۀ رنګه ګرم يا ذمه وار ګرځوي. تر څو چې د قندهار د حاکم عبدالعزيز خان تعلق دے هغه د جهانګير په حکم قتل کړے شو (ص۴۸۹) په عکس د دې خان جهان د قندهار د واقعې نه پس نۀ صرف لکه د پخوا ګران او معتمد وۀ بلکه برابر پرې مهرباني. يوه له بلې زياته... کيدے.

۰۶ ن ا و ن د "خيبر" ن ج "خير" زما د وړاندې نورې پښتو نسخې دا ځائے نۀ لري. جُنّير (ج ن ے ر) د بمبئ. مهاراشټر صوبې په پونه ضلع کښې د پونې له ښهره څۀ ډير لږ قطب رويه لويديز لوري او احمد نګر له ښهره خاتيز لوري څخو قطب رويه پروت دے. (امپيريل ګزيټئير جلد۱۴ ص ۲۳۹و ۲۴۰ او روډ ميپ آو انډيا ۱۹۲۸ ء) لکه بايد چې جوته وي دغه علاقې او ځايونه د مغل والي د دکن برخې ګنړل کيدے شوے.

۷. مط ن ح و ن د. ن ا "برزور". د برار علاقه د خانديس د علاقې نه (چې د پيرنګوالي د بمبئ او د اوسني مهاراشټر صوبې په دوۀ ضلعو مشرقي او مغربي خانديس مشتمله وه) سهيل خاتيز ته او د احمد نګر د علاقې (د بمبئ يا مهاراشټر صوبې ضلع او ښهر) او د حيدر آباد رياست د اورنګ آباد ضلعې قطب خاتيز ته وۀ.

۸. آګره.

۹. ن ا مشکوک (غالباً جان سپار خان) مط بادشاهنامه و منتخب اللباب وغيره او ن د.

. مط ن د. ن ا "او جان سپار چې موافقت ورسره ونهٔ کړو".

وګورئ د دې صفحې نوټ ۷ او ص ۱۰۶۴ نوټ ۲

۱۲. ن ا "هزار".

۱۳ د دغه نوم په هندوستان کښې ګڼې علاقې دې مثلاً (ا) د صوبجات متوسط یوه ضلع چې د ناګپور ضلعې (چې هم د دې نوم یعنې ناګپور ښهر د ضلعې او صوبې صدر مقام پکښې واقع دے). شمال مشرق ته یوه ضلع. (ب) د برار لوړه علاقه (ج) د کرناټک لوړې ضلعې. (د) د حیدرآباد غربي نیمائي کښې د غرونو یوه سلسله. دلته ترې د برار جنوبي لواړګي چې غرب ته احمد نګر سره لګیدلي دي او د احمد نګر علاقه مراد ده. اګر کهٔ "دي کیمبرج شارټر هسټري آو انډیا" ص ۳۱۲ خو صرف د برار لواړګي یادوي. خو د بادشاهنامې او د منتخب اللباب د بیان له رویه احمدنګر پکښې شامل دے ځکه د دیو واقعاتو د بیان په ضمن کښې وائي چې د بالا ګهاټ علاقه ما سوا د احمد نګر نه له مغلې واکه ووتله.

۱۴ مرتضٰی نظام شاه دویم.

۱۵ د دکن مشهور خانے. (کوټ) چې د اورنګ آباد (وګورئ نوټ ۷) په ضلع کښې په غرهٔ واقع دے.

۱۶. هون: یو دینار. د سرو زرو یوه سکه چې په دکن کښې رائجه وه. معتمد خان (د توزک جهانګیرې د تکملې لیکونکے) درې لکه هون برابر د دولسو لکو روپو (توزک اردو ترجمه ص۸۴۳) او خافي خان (منتخب اللباب حصه ا ص ۳۱۱) شپږ لکه هون لیکي. اګر کهٔ د شاهجهان د عهد سرکاري مورخ ملا عبدالحمید لاهوري او د غیر سرکاري تاریخ مولف ملا محمد صالح کنبوه لاهوري د بالاګهاټ د بائلات په وجه چې د جهانګیر د عهد په اواخر کښې د افراتفرئ له قبله له مغلې تسلطه ووت په خان جهان ملامت وائي او نظام الملک سره پرې د ساز باز الزام لګوي خو د بلهو اخستو دغسې الزام لکه چې پرې معتمد خان، خافي خان یا څنو نورو لګولے دے نهٔ لګوي. په دې باب د معتمد خان بیان داسې زمانې سره تعلق لري چې ډیره اغلبه ده. چې د جهانګیر تر نظره هلهو تیر شوے نهٔ وي. بلکه د هغهٔ له مړینې وروستو لیکلے شوے وي او هر کله چې د شاهجهان او خان جهان تعلقات خراب وو او بیا کله چې به بناغلي لوستونکي زر وخیري اخر خان جهان له شاهجهانه بغاوت هم وکړو نو له قیاسه بعیده نهٔ ده چې په خوشامدو کښې د مبالغې کولو او دغسې د شاهجهان د خوشحالولو په نیت یا د بدګمانئ له قبله څنو مورخانو هغه څهٔ ولیکل (او بیا راتلونکو مورخانو لکه خافي خان وغیره هم نقل کړل) چې پخپله د شاهجهان د عهد سرکاري مورخ د ثبوت پائې ته رسیدلي نهٔ ګڼل.

د جهانگیر د حکومت په اواخر کښې چې د هغهٔ په مملکت کښې کومه غلبله ګډه شوې وه پکښې د شاهجهان پخپله له بل چا کم لاس نهٔ وهٔ. امکان خو د هر څهٔ کیدے شي خو ډیره غیر اغلبه ده. چې خان جهان چې جهانګیر ترې هر څهٔ قربانولو ته تیار وهٔ او دهٔ هم چرې په خدمت او ارادت کښې له څهٔ دریغ نهٔ وهٔ کړے د جهانګیر ملک نې به دریو یا شپږو لکو روپو په نظام الملک خرڅ کړے وي. جهانګیر پرې تر دې حده مهرباني کوي چې په زوي نې بلي، محل ته ئې خان سره بوزي. شهزادګو کښې ئې ګرځوي. او بیا ورته وائي چې زما خوښه ده چې تا له د سلطان جهان خطاب درکړم. او یوه شهزادګي در وادهٔ کړم. او خان جهان دومره نمک حلاله او وفا شعار دے چې ورته وائي چې دغه خطاب او شهزادګي د شهزادګانو سره ښائي. او زما ویاړ، عزت او خوشحالي هم ستا نوکري او خدمت دے. (وګورئ مآثر الامرا جلد ۱ د خان جهان سوانح عمري او د بالاګهاټ د واقعې دپاره توزک جهانګیري اردو ترجمه ص ۸۴۳. بادشاهنامه جلد ۱ ص ۷۶، ص ۲۴۸ تر ص ۲۷۱، ۲۷۳. خافي خان جلد ۱ ص ۴۱۱، ۴۱۲. لکه چې بره وونیل شول. ملا محمد صالح په دې باب هم د بادشاهنامې د بیان پیروي کوي.

۷۱. دوتاني د پښتنو یوه وړه قبیله ده او په اصل کښې د لودیو څانګه ده. علاقه ئې د وزیرو محسودو د علاقې نه سهیل او د شیرانیو نه قطب لویدیز ته ده.

صـ ۱۷۰

جهجهار سنګهه بوندیله د اورچهه یا اوندچهه راجه. اورچهه (ص ۱۲۰ نوټ ۲ هم وګورئ) د بوندیله راجپوتو علاقې د یو مشهور ریاست. مغرب او شمال ته ترې د یو پي جهانسي ضلع، جنوباً ترې د جهانسي څهٔ لږه غوندې برخه او ضلع ساګور (صوبه جات متوسط) د بجاور سند ریاست چې د اورچهه ماتحت وهٔ او شرقاً ترې د چهتر پور او بجاور ریاستونه او نور شرقي ترې د بوندیله ؤ بل مشهور ریاست پنه. د ریاست زوړ او اصل صدر مقام تر ۱۸۸۳ء پورې اورچهه یا اوندچهه وهٔ او پسته تیهري یا تیکم پور وتاکل شو. (امپیریل ګزټیر جلد ۱۹ ص ۲۴۱ تر ۲۴۷ او د هندوستان د صوبو او اضلاعو نقشه ۱۹۱۵ء).

۲. مط ن د. ن ج. "چې تانسي ته" الخ. ن ۱ "دوه درې ګاه کښې چې باشي ته د بادشاه نسي".

۲ الف. بادشاه نامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۲۷۳، ۲۷۴ "لشکری پسر مخلص خان از شوریده سری وفتنه گری با پسرانش گفت". الخ. عمل صالح جلد ۱ ص ۳۴۹ "لشکری پسر مخلص خان از روئے خوردسالی وبی خردی خواست که

پسران اورا دررواہمہ انداز دبہ ایشان گفت۔'' الخ.

۳. یمین الدوله آصف خان (ابوالحسن) خان خانان. د جهانګیر باچا اخښے. (د نورجهان بیګم ورور) او د شاهجهان باچا سخر (د ممتاز بیګم پلار).

۴. ن د "تقدیر زور دے شدني نهٔ نوریږي."

۵. ن د "یوویشم د مهر". مهر د ایراني کیلنډر اتمه میاشت ده چې میزان هم ورته وائي چې د علم هیئت له رویه په دغه میاشت کښې نمر په برج میزان کښې وي. ۲۳ ستمبر نه تر ۲۳ اکتوبر سره سمه میاشت.

۶ ن ا "جیما". مرزا راجه جے سنګهه کچواهه و امبیر (جے پور) راجه د عهد شاهجهاني او عهد عالمګیري ډیر لوے او مشهور امیر او منصبدار دے.

صـ ۱۷۱

ن ا "راجه بنلداس". راجه بیتهلداس ولد راجه ګوپالداس ګوړ د شیو پور (د شیو پور دپاره وکورئ د عهد سکندري نوټونه. د پیرنګوالي د زماني د ګواليار رياست يوه ضلع خو ضروري نهٔ ده چې د راجه بیتهلداس د رياست حدود دې هم دومره وو لکه د دغه ضلعې) راجه د عهد شاهجهاني ډير مشهور او لوے امير دے. ن د، د بهارت بونديله نه پس دا نامې راوړي. "او خواص خان او ظفر خان او راؤ سور بهورتيه."

۲. اني رائے. ن ا "نيو رائے

۳. ن ا "بهم".

۴. ن ا "شهري خان"

۵. بادشاهنامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۲۷۲ نامې دغه شان لکه لاندې ليکل شي ور کړې دي ما ورسره د غلطو نامو د درستی او یا مزید وضاحت او متبادل شکل دپاره قوسين علاوه کړل. "خواجه ابوالحسن، خانزمان، سيد مظفر خان، راجه (راجه بے تهل داس، د بے تهل تلفظ بتهل هم کيدے شي) راجه بهارته بنديله، (بهارت ب ن دے لهٔ) سردار خان، اينرائے (اني رائے) معتمد ولد خواجه ابوالحسن، مادهو سنګهه هادا. (م ا د هـ و (مجهوله) سنګهه هاډه يا هاړه دواړه رنګه صحيح دے) بهيم راتهور (به ي م را تهـ ور (مجهوله) راجه بير نرائن (ب /و ي ر ن را ء ن يا ن ا ر ا ء ن) پير خان ميانه، احداد مهمند، مرحمت خان بخشي احديان، رائے هرچند پرهار (پ ر ه ا ر) و "جمعي ديګر" عمل صالح جلد ۱ ص ۳۵۱ د راجه بير نرائن، پير خان ميانه او رائے هرچند نامې نهٔ لري. او د شادي خان اوزبک نامه زياتي لري. د فدائي خان نامه د عمل صالح د متن په ځائے حاشيه کښې ده. په دغو نامو کښې ياد شوي ابوالحسن

نـه مـراد آصف خان نهٔ دے . په بادشاهنامه کښې په څنو ځایونو کښې د بیتهلداس املا فارسي خـط سـره ســم پـه ځـائـے د تهـ تهـ سره بیتهلداس او بتهلداس هم راغلې ده. او د بهارته نوم بهارت هم راغلے دے .

د بـادشـاهـنـامې جلد ۱ حصه ۱ ص ۲۷۸ او عمل صالح جلد ۱ ص ۳۵۳ مطابق درستي وشوه. ن ا "محمد شفیع او د مظفر خان نمسے

۷. مط بادشاهنامې او عمل صالح. ن ا "او له نورو". الخ.

۸. بادشاهنامه او عمل صالح "دوه وروڼه".

۹. ن ا دلته "پتیلداس".

۹ الف. دا عبـارت لـه "دوه ځـامـن د خـان جهـان" تـر "کښې ومـړل" صحیح نـهٔ دے . د •بـادشـاهـنـامـې جلد ۱ حصه ۱ ص ۲۷۸ او عمل صالح جلد ۱ ص ۳۵۳، ۳۵۴ په رڼا کښې داسې پکار دے . "دوه زامن د خان جهان یو محمد حسین او بل عظمت خان او زوم ئې شمس خان سره د مشرانو وروڼو محمد خان او محمود خان او له نورو شپیتو ښو کسانو ومړل". (ما پـه تـرجمه کښې غیر ضروري تفصیلات پرېښودل) نو معلومه شوه چې زمونږ په کتاب کښې (د افضل خان په پښتو ترجمه کښې لکه زمونږ د وړاندې ده) "روښن خان زوم د سردار خان" پـه ځـائـے "شمس خان زوم د خان جهان" لیکلے شوے دے . او په ځائـے د دې چې محمد خان او مـحـمـود خـان د شـمـس خان وروڼه یاد شوي وے د احداد خان زامن یاد شوي دي. احداد خـان لـکه چې تاسو ولیدل په بادشاهي فوځ کښې وهٔ اګر کهٔ دا ممکنه نهٔ ده چې پلار یو طرف تـه او زامـن بـل طـرف ته وے او یا د احداد خان د نامې دوه سړي وي. په بادشاهنامه کښې او عـمـل صالح کښې د خان جهان زوم شمس خان (د محمد خان او محمود خلن دوي ورور) د عـالـم خـان لـودي نـمسـے یاد شوے دے . دلته به ښاغلو لوستونکو ته دا خبردارے ورکول بې ځایـه نـهٔ وي چـې د خـان جهـان لـودي د بـغـاوت د حالاتو په بیان کښې سرکاري مؤرخ ملا عبـدالحمید (د بادشاهنامې مؤلف) هغه د "پیرا" (پیرے) "پیراے مرید" او "پیراے تیره رائے په نامه او بدو صفتونو یادوي.

دلتـه زمـونـږ پـه کتـاب کښې هم د "جیما سنګهـ" په ځائـے "جـے سنګهـ" دے . وګورئ ص ۱۷۰ نوټ ۲

۱۱ عبـارت لـه "نور په بادشاهي لار" تر دې ځایه یعنې "راغلل" د بادشاهنامې جلد ۱ حصه ۱ ص ۲۹۰ او عـمـل صالح جلد ۱ ص ۳۵۴، ۳۵۵ په ښا ولیکل شو. زمونږ د کتاب عبارت داسـې مهـمـل دے : "نور په بادشاهي امیري د اینرائے راجاروتل سنوائے چې پرګنه د ملک د

لـونـدلـي راغلل". گوالیار ته نزدې جنوباً شرقاً انترې او له انترې جنوب څخو شرقاً وتیه ده او ورتـه نـزدې جنوباً څخو مشرق ته جهانسي ده. چندیرې د جهانسي نه جنوب څخو غرباً او له گوالیاره جنوب ته ده. بهوراسه خو ما ونهٔ مونده البته بهیلسه مشهوره علاقه او د گوالیار ضلع ده. صدر مقام بهیلسه ئې د چندیرې جنوب ته، د رائے سین شمال څخو مشرق لورې ته نزدې پـروت دے. د گـونـډوانـې علاقه ترې جنوب مشرق ته ده. بادشاهنامې کښې د دقیه په ځائے دوتیه غلط چاپ شوے دے.

۱۲ مـط ن د بـادشـاهـنـامـه جـلـد ۱ حـصـه ۱ ص ۲۸۰ و عمل صالح جلد ۱ ص ۳۵۵ "به جـنـگـل مـلـک جهـجهـار سنگهـ بوندیله" زما په مخکښې پښتو نسخه ن ۱ کښې وړومبے "د گونډوانه" او دلته د بوندیله په ځائے "لوندلي" لیکلي دي.

۱۳ مـط بـادشـاهـنامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۲۹۰، ۲۹۲، او په مخ او عمل صالح جلد ۱ هـ ۳۶۵، ۳۷۰ او په مخ. ن د. ن ۱ "سنه هجري دو دیرش". د شاهجهان د وړومبي جلوس تاریخ ۱ جـمـادي الثـانـي ۱۰۳۷ هـجـري او دریـم کـال به ئې د ۱ جمادي الثاني ۱۰۳۹ هجري نه شـروع کیـږي. د دې مهم ذکر په بادشاهنامه او عمل صالح کښې د دویم جلوس د احوال په اواخر کښې شروع کیږي. خو عملاً مهم په دریم کال کښې شروع شوے وهٔ.

۱۴ بهـادر خـان روهیـله د دریا خان روهیله (داؤدزي) زوے. دریا خان په دې مهم کښې د خان جهان لودي ملګرے وهٔ خو زوے ئې بهادر خان چې د شاهجهان هغه د شهزادګۍ له وخته مـلازم او رفیق وهٔ د بادشاه په طرف وهٔ. د دغه فوځ کماندار اعظم خان وهٔ او بهادر خان هم په دغـه فـوځ کښـې وهٔ. د بهـادر خـان او د هغهٔ د خاندان حالات په مخ په تاریخ مرصع او هم په دغه نوټونو کښې راتلونکي ډي.

۱۵ لـکـه چـې بـادشاهنامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۳۲۳ او عمل صالح جلد ۱ ص ۳۸۷ کښې لیـکـلي دي دا عبارت داسې پکار وهٔ: "خان جهان تاب د بادشاهي فوځونو د جنګ رانهٔ وړ یوهٔ غرهٔ ته لاړ.

۱۶ ن ۱ "خـان جهـان". ن د کـښـې صحیح "بهادر خان" لیکلے دے. لکه چې بادشاهنامه او عـمـل صـالـح کـښـې لیـکـلـي دي. وړومبے بهادر خان، اهتمام خان او نرهرداس جهالا غرهٔ ته وروختل او بیا نور بادشاهي فوځ. سرداران او سپاهیان.

۱۷ ..... بـردار زادهٔ خود را که بهادر نامے بود". (عمل صالح جلد ۱ ص ۳۸۸). د دې له رویـه دغـه بهـادر د خـان جهـان ورارهٔ وهٔ. د دغـه بهادر خان او خان جهان دا رشته بادشاهنامه جـلد ۱ حصه ۱ ص ۲۷۶ د دغه واقعاتو د بیان نه وړومبے د خان جهان د فرار د ذکر په ضمن کښې ښیي.

۱۸ ن ۱ "مړ نهٔ شهٔ" بهادر خان روهیله (داؤدزے) په مخ او اړخ په غشو زخمي شوے وهٔ او بهادر خان لودي په توپک لګیدلے ژوبل پروت وهٔ. چې له بادشاهي لبنکره پرې پرس رام د راجه پهاړ سنګهه بوندیله ملازم راغے بهادر خان لودي پرې اګر کهٔ په پتون د جمدر ګزار وکړو خو پرس رام ورله په مری جمدر راکښو مړ ئې کړو.

۱۹ ن ۱ "نشوه". "بهادرخان راخلعت وخنجر مرصع مرحمت نموده به اضافهٔ هزار سوار به منصب چار هزاری سه هزار سوار وعطا اسپ بازین مطلا وفیل عزوافتخار بخشید." (بادشاهنامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۳۲۷).

۲۰. زما د وړاندې پښتو نسخه یعنې ن ۱ کښې (په نورو کښې دا ځائے نشته) د تاریخ مرصع بیان محل نظر دے. په دې جنګ کښې هم بادشاهي فوځ لګه د سابق برے موندلے وهٔ او خان جهان په ماتې خان له تهلکې ویستلے وهٔ.

ص ۱۷۲

۱ "کمال خان د شیخ رکن الدین زوے روهیله".

۲. شیخ رکن الدین په اصل داؤدزے بازید خیل پښتون وهٔ. د پلار نامه ئې شیخ عیسي خان وه. چې خانې د ګیدړ کلي وهٔ. دا کلے د پیښور ښار نه تقریباً څوارلس میله قطب لوري ته د ناګومان سیند په کینه غاړه پروت دے. څهٔ موده اګاهو د هادي زو سیند شلیدلے دے چې لګه د ناګومان او شاه عالم د کابل د سیند د څانګو خنې دے. (د هادي زو سیند له ناګومانه په لړه فاصله قطب لوري د داؤدزو او ګګیانو په برید شرقاً غرباً بهیږي. داؤدزي ګرد په پیښور تحصیل او ګګیانې د پیښور ضلعې په چارسدې تحصیل کښې په غربي قسمت کښې دي).
او یوه لویه چره ئې د ګیدړ خوا ته راتیره شوې او څهٔ مزل نمر خاتهٔ ته ترې په ناګومان کښې ګډه شوې ده او اوس ګیدړ لکه د یوهٔ تاپو څیرې (جزیره نما) د دوو سیندونو تر مینځه د ناګومان په کینه او د چرې په سمه غاړه پروت دے. شیر شاه سوري د بسي کلے د باره بستي تحصیل انوپ شهر ضلع بلند شهر یو پي چې د ګنګا په غاړه پروت دے سره د څهٔ نورو کلو شیخ عیسي خان ته په طور د جاګیر بخښلے وهٔ او شیخ عیسي خان سره د بال بچه هم هورې میشته شو. او د دهٔ له قبله به نور پښتانهٔ داؤدزي او مومند هم راتلل او په دغه علاقه کښې به چې وروستو په باره بستي مشهوره شوه ابادیدل. د شیخ عیسيٰ خان شپږ زامن وو شیخ رکن الدین مخاطب په شیر خان شیخ یوسف خان، شیخ عمر خان، شیخ خضر خان، شیخ داؤد خان او شیخ حسن خان مخاطب په مبارز خان او یوه لور ئې هم وه. چې بي بي ببرې نومیده. (یادګار سلف ص ۴۱، ۴۲ او ۵۲/۱) په دیو کښې شیر خان شیخ رکن الدین د جهانګیر باچا د عهد نهٔ صرف ډیرو لویو منصبدارانو او امیرانو کښې وهٔ بلکې د هغهٔ ډیر باوري او خاص مصاحب وهٔ او چار هزاري منصب ئې لرلو چې د هغه عهد ډیر لوے منصب وهٔ. د جهانګیر د

بادشاه کیدو نه پس شیخ رکن الدین صرف دوه کاله ژوندے وۀ. گنه شاید چې لکه د آصف خان، مهابت او خان جهان نورو وچتو پایو ته هم رسیدلے وے.

د جهانګیر د عهد آغاز وۀ چې دریا خان د ابراهیم خان زوے چې په اصل باقلزے (یا باقرزے) داؤدزے د بربر کلي وسیدونکے د مختلفو روایاتو له رویه د اسونو د تجارت یا د بهتر معاش د لټون په لړ کښې هندوستان ته لاړ د بربر کلے د داؤدزو په تپه کښې د پیښور ښار نه خواؤشا اتۀ میله قطب لوري ته د پیښور چغرمتي په سړک ترې قبلې ته پروت دے. د یادګار سلف ښاغلے مؤلف ګیدړ د پیښور ښار نه سهیل ته بیانوي.(ص ۴۱) او د بربر فاصله ترې بې د طرف له تعینه اووۀ کروهه ښیي (ص ۱۵۱) لکه چې مونږ لیکلي دي دواړه د پیښور نه قطب ته دي. کۀ له بربره په کلیوالو لارو قطب رویه څو نو ګیدړ به تقریباً شپږ میله یا څلور کروهه وي. او کۀ ورته په سړک څو نو ورومبے به اتۀ نهۀ میله مزل کړے پیښور ښار ته راځو او بیا به قطب لوري په پیښور چارسده سړک له ناګومان له پوله پورې وتے د ناګومان په خوا کښې به په یوۀ ذیلي سړک قبلې ته تاؤ شو او تقریباً څلور پینځۀ میله مزل کړے د چرې خوا له به ورشو. او ترې به په کشتي خواجي کلي ته ورپورې وځو چې نمر خاتۀ ترې ګیدړ د قدمونو په فاصله نزدې پروت دے. دغسې به له پیښوره تقریباً شپاړس میله فاصله جوړیږي.

په هندوستان کښې د دریاخان د شیخ رکن الدین سره لیدل وشول. او شیخ په خپل دغه عزیز میلمه دومره مهربانه شو چې خپله لور بي بي ببرې ئې ور وادۀ کړه. د وادۀ نه څو ورځې شپې پس دریا خان وطن ته راغے څو چې په ۲۹ رمضان ۱۰۱۶ هجري (جنوري ۱۶۰۸ ء) شیر خان شیخ رکن الدین د ۵۷ کالو په عمر وفات شو نو دریا خان سره د خپلې ښځې بي بي ببرې هندوستان ته لاړ او هم هورې ئې د مستقلې استوګې اختیارولو فیصله وکړه. ورومبے ئې د یو لوے منصبدار او امیر مرتضیٰ خان شیخ فرید بخاري او بیا د شهزاده خرم (وروستو شاهجهان بادشاه) ملازمت اختیار کړو، او په ډیرو معرکو کښې ئې خان یو بهادر او قابل سپاهي ښکاره کړو. د یادګار سلف مؤلف عبید الله خان صاحب مرحوم د دریا خان د ترقۍ په باب د تاریخ مظفري مطبوعه ۱۹۱۷ ء د اخبار محبت قلمي په حواله دا روایت چې خان جهان لودي ښکار لره وتے وۀ لار ئې غلطه کړه او تږے بې تابه بې قراره په بربر ورغے. دریا خان ئې ښۀ دارمدار وکړو او د دې خدمت په بدل کښې خان جهان ولګیدو جهانګیر باچا ته ئې پیش کړو غیر معتبر ګڼي او وائي چې صرف دا نه چې له توزک جهانګیري او بادشاهنامې د دې روایت تائید نۀ کیږي بلکې تردید ئې کیږي. د تاریخ مرصع بیان هم د دریا خان هندوستان ته د تلو په حقله د تاریخ مظفري بیان سره سمون نۀ خوري. د یادګار سلف او تاریخ مرصع

دوارو نه معلومیږي چې پخپله هندوستان ته تلے وهٔ. وړومبے تاریخ ئې تگ د اسونو د تجارت په لړ کښې بیانوي او دویم نغوته کوي چې خوارۍ او د بهتر معاش لټون هندوستان ته رسولے وهٔ. خو هغه تفصیلات نهٔ لري چې کوم مونږ د یادگار سلف په بنا بناغلو لوستونکو ته وړاندې کړل، تر څو چې د تاریخ مظفري د روایت د اساس اخبار محبت تعلق دے نو دا څهٔ زوړ اثر نهٔ دے. بلکې لکه چې د ډاکټر ایم اے رحیم د کتاب "دي افغانز ان انډیا" له کتابیاتو معلومیږي تالیف ئې په ۱۸۵۰ء کښې شوے وهٔ. د اخبار محبت دغه روایت دې دپاره هم محل نظر دے چې د معتبرو آثارو له رویه د دریا خان د نوکرۍ آغاز مرتضیٰ خان شیخ فرید بخاري سره کیږي او کهٔ خان جهان (چې پخپله ډیر لوے امیر او د باچا له خاصو مقربانو وهٔ) د خانه سره هندوستان ته بوتلو او د بادشاه په خدمت کښې ئې هم پیش کولو نو په خپل ملازمت کښې ئې ولې نهٔ ساتلو. د مرتضیٰ خان شیخ فرید بخاري سره د دریا خان د نوکرۍ آغاز دا نغوته کوي چې کهٔ هر څو د شیخ رکن الدین زوم کیدل د دریا خان د ترقۍ باعث شوي وي غالباً چې دغه نوکري هغهٔ د سخر د مرگ نه پس اختیاره کړې وي.

له شیخ رکن الدینه درې زامن پاتې وو: شیخ کمال الدین، شیخ عبدالرحمٰن او شیخ یونس. شیخ کمال الدین د هشت صدي ذات پانصد سوار منصبدار وهٔ. (بادشاهنامه جلد ۱ حصه ۲ فهرست منصبداران دور اول ص ۳۱۴) [*هم په دغه فهرست کښې یو بل هشت صدي منصبدار په ص ۳۱۵ (صدر برادر شیر خان روهیله هشتصدي چار صد سوار) هرکله چې مغلوالي په تاریخونو کښې خطاب یافته منصبداران په خطاب یادیږي او شیر خان د لوے او مشهور منصبدار شیخ رکن الدین خطاب وهٔ او شیخ کمال الدین د پلار په نسبت کمال الدین ولد شیر خان روهیله یاد شوے دے دې د صدر په حقله قیاس کیدے شي. چې دې د شیخ رکن الدین وررور وهٔ او مونږ چې د شیخ عیسي خان د زامنو د شیخ رکن الدین او د هغهٔ د وررونو نامې د یادگار سلف په حواله لیکلي دي هغو کښې د صدر نامه نشته. دغه مسئله هم یادگار سلف حل کوي. د عمر خان سید خیل داؤدزي زوے شیر خان مخاطب په شهباز خان وهٔ او درې زامن ئې نور صدر خان عبدالرسول خان او عبدالنبي خان وو. دغه شیر خان له (چې بې له خطابه د سرکاري قاعدې له رویه محض شیر وهٔ) شاه جهان په ۱۷ شوال ۱۰۳۷ هجري د شهباز خان خطاب ورکړے وهٔ. وګورئ یادگار سلف ص ۱۱۸، ۱۱۹. د بادشاهنامې الفاظ دا دي: "شیر وے روهیله به خطاب شهباز خان سربلند شد". نو معلومه شوه چې شیر خان ئې نوم وهٔ او شیرے یا شیرو بلل کیدو، او شهباز خان ئې خطاب وهٔ. بادشاهنامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۲۰۴ حصه ۲ ص ۲۹۸ کښې په فهرست منصبداران کښې دے. شهباز خان معروف به شیر خان روهیله یاد شوے دے. منصب ئې سه هزاري دو هزار سوار وهٔ نو صدر د شیخ عیسیٰ خان بازید خیل زوے نه بلکې د عمر خان سید خیل زوے وهٔ.*]

اګر کهٔ زمونږ په مخکښې د تاریخ مرصع د عبارت د شاهجهان نامې په حواله نه دا مطلب ولاړیږي چې خان جهان له شاهجهانه ازرده شو نو هغه وخت شیخ کمال الدین په ګولکنډه

کېښې وۀ خو نۀ خو دغه خبره د شاهجهان د عهد سرکاري تاريخ بادشاهنامه او نۀ په بل معاصرانه تاريخ عمل صالح کښې چې شاهجهان نامه ورته وائي شته. شيخ کمال الدين د پيښور په علاقه په خپل جاګير کښې وۀ. د بادشاهنامې او عمل صالح د بيانونو له رويه خان جهاني لودي، شيخ کمال الدين ته ليکلي وو (او افضل خان لکه چې تاسو وليدل په دې باره کښې هم د هغوي پيروي کوي) چې تۀ عالم راغونډ کړه او په بادشاهي عالمو چپاؤ وکړه او هغۀ خليل مومند داؤدزي ، يوسفزي، ترکلاني، ګګياني او مهمنزي راغونډ کړل او عبدالقادر روښاني ته ئې هم خطونه وکښل او تحفې ئې ورولېږلے او هغه ئې هم مرستې لره له تيراهه سره د تورو، خاخو، ختېکو، بنګښو او دوړو وغيره راغے. او دواړه مشران ايلم ګودر کښې سره يو ځائے شول. له هغه ځايه ئې په پيښور چپاؤ وکړو خو له باچهي فوځونو ئې شکست وخوړ. افضل خان د دې جنګ لږ ډېر تفصيل (چې نشاندهي به ئې هوري وشي) د پښتونخوا د واقعاتو په ضمن کښې راوړے دے. د پيښور جنګ په ذوالحجه ۱۰۳۹ هجري کښې شوے وۀ. او د شاهجهان او خان جهان ترمينځه عملي مخالفت په صفر ۱۰۳۹ هجري کښې شروع شوے وۀ.. نو کۀ دغه وخت شيخ کمال الدين په دکن کښې وے نو د هغۀ دپاره له دکنه پيښور ته رارسيدل او بيا دومره لوے تيارے کول لکه چې بيان ئې وشو او هم د دغه کال په اخر کښې په پيښور چپاؤ کول ګران کار وۀ. علاوه له نورو مشکلاتو په داسې وخت کښې د يو پښتون بيا د دريا خان د اخښې تې له رخصته ناساپه دکن پريښودل او پښتونخوا لوري ته راروانيدل خان له يوه ډيره ګرانه خبره وه. د دې په مقابله کښې د يو غير معروف استازي په ذريعه شيخ کمال الدين سره کۀ هغه په پيښور کښې وۀ سوال ځواب دومره ګران کار نۀ وۀ. البته کۀ دا فرض کړو چې د خان جهان او شاهجهان ترمينځه د سوال ځواب نه اګاهو د خان جهان او شيخ کمال الدين ترمينځه سوال ځواب او بند پيوند شوے وۀ نو له هغۀ پسه او د عملي مخالفت نه وړومبے شيخ کمال الدين دکن پريښودے او پيښور ته راغلے وۀ نو دغه مشکلات حل کيدے شي. خو لکه چې عرض وکړے شو له بادشاهنامې او عمل صالح دا نۀ معلوميږي چې شيخ کمال الدين په دکن کښې وۀ بلکې هم دغه اندازه کيږي چې هغۀ لره وطن ته پيغام استولے شوے وۀ ځکه چې کۀ چرې هغه له دکنه راتښتيدلے وے نو غالباً چې د دې ذکر به ئې کړے وۀ. اګر کۀ "دي افغانز ان انډيا" مؤلف ډاکټر ايم اے رحيم ليکي (ص ۲۹۳) چې شيخ کمال دين مفرور وۀ خو نۀ ئې د فرار مقام او نۀ ئې وخت ښئيلے دے. اعني چې د دې واقعې نه څومره موده وړاندې او کوم ځائے شيخ له باچهي نوکرى فرار کړے وۀ. د موصوف مؤلف الفاظ دا دي: "خان جهان و کمال الدين روهيله ته چې له مغليه ملازمت

فراري وۀ وليکل. او هغۀ د شمال مغرب د مختلفو قبائلو د مغلو برخلاف قيادت وکړو." الخ او د بادشاهنامې جلد ۱ ص ۳۱۱ عمل صالح جلد ۱ ص ۳۷۸ او مآثر جهانګيري ص ۹۶۳ حواله ورکوي. لکه چې عرض وشو په وړومبو دوؤ کتابونو کښې په دغو ځايونو د شيخ د فرار ذکر نشته. مآثر جهانګيري زما د وړاندې نشته نۀ مې ئې د کتلو موقع درلودې ده. په هر حال کۀ هر څو نۀ د بادشاهنامې او نۀ د عمل صالح مؤلف د شيخ کمال الدين له بادشاهي ملازمته د فرار ذکر کوي د عمل صالح د مؤلف د بيان د انداز نه معلوميږي چې شيخ کمال الدين د خان جهان سره د دې رابطې نه وړومبے هم په سر کښې د پښتنو د رياست انديښنې لرلے (همواره رياست افغانان مي خواست) نو له قياسه بعيده نۀ ده چې هغه په اجازت يا بې اجازته له ملازمته راغلے او بيا په وطن کښې ناست وي. د يادګار سلف مؤلف هم دا ليکي چې شيخ کمال الدين ته د مغلو برخلاف د پښتنو د پارولو دپاره خطونه دريا خان ليکلي وو کۀ خان جهان لودي او کۀ دريا خان داؤدزي ليکلي وو د دريا خان چې د شيخ کمال الدين د خور خاوند وۀ لاس به پکښې ضرور وۀ. او په هر حال کۀ شيخ کمال الدين دغه وخت د مغلو ملازم او جاګيردار وۀ او کۀ د هغوي نوکري ئې پريښې وه او کۀ ترې تښتيدلے وۀ. د هغۀ دغه وخت (چې د خان جهان يا دريا خان خطونه ورتلل) پيښور کښې استوګه قياس ته زياته نزدې ده.

دريا خان داؤدزے او خان جهان لودي دواړه پرله پسې په هندوستان کښې د دغو جنګونو په دوران کښې د شاهجهان د عهد په څلورم کال کښې قتل شول. د پيښور جنګ لکه چې وړومبے هم ونيلي شوي دي په ذوالحجه ۱۰۳۹ هجري (د شاهجهان د عهد د دريم کال په وسط) کښې شوے وۀ. لوے واړۀ نور جنګونه هم خواؤشا ډير شوي وو. ډير پښتانۀ پکښې قتل شول. خصوصاً د پيښور په جنګ کښې مغلو د برې نه پس هم ډير سول وژل وکړل. خو د شيخ کمال الدين په حقله نۀ صرف بادشاهنامه او عمل صالح او تاريخ مرصع غلي دي بلکې د هغۀ د خاندان تاريخ يادګار سلف پرې هم څۀ رڼا نۀ اچوي. په هر کيف د پيښور د جنګ نه پس مونږ په هيڅ يوۀ تاريخ کښې هم د شاهجهان د عهد او وروستو واقعاتو کښې د شيخ کمال الدين نامه نۀ وينو. د يادګار سلف مؤلف عبيدالله خان صاحب داؤدزے مرحوم ليکي چې "تاريخ په دې حقله خاموشه دے چې بادشاه د شيخ کمال الدين په حقله څۀ حکم وکړو. خو هر کله چې د بادشاهنامې دويم جلد سره لګيدلي د منصبدارانو په فهرست کښې د هغۀ نامه نشته نو هسې معلوميږي چې هغه د نوکرۍ نه لرې کړے شوے وۀ." (ص ۴۲) د پيښور د جنګ نه پسته په واقعاتو کښې د شيخ کمال الدين د نامې نشتيا د دې رائ

قائمولو نغوته کوي چې هغهٔ هيڅکله مغلو ته ځان نهٔ وهٔ حواله کړے او هندوستان ته بيرته نهٔ وهٔ تلے يا خو دا ننګيالے پښتون په جنګ کښې شهيد شوے او نعش ئې نهٔ وهٔ موندلے شوے او يا د پيښور پـه جنګ کښې د مغلو د برې او د پښتنو د ماتې نه پس سمدستي يا څو ورځې شپې پـس روپوش شو. د يادګار سلف نه معلوميږي چې د شيخ کمال الدين يو زوے موسىٰ خان وهٔ او د هـغـهٔ درې واړه زامـن سـرمست خان، عظمت الله خان او عظيم الله خان بې اولاده وفات شوي وو. (۵۲/۱ شجره)

د پيښور د هوائي اډې سره هورې چې چرې کله د آبدرې پاټک وهٔ هغه ځائے چې په پيښور بـاړه سـړک د ريـل پـاټک تـه هـم نـزدې دے يو زيارت دے چې د شيخ کمال بابا په زيـارت مشهـور دے. دلته يو قبر جوړ دے خو کهٔ په عامه خبره باور وکړو نو به ئې علامتي قبر ګنـو. وائي چې بابا دلته ښخ نهٔ دے بلکې د ناستې ځائے ئې دے. او څوک ورسره دا خبره هم کـوي چې د ښـخولو نه ئې وروميے دلته د بابا جنازه ايښې وه. په هر حال تقريباً د علاقې ټول پـوه خـلـق وائـي چې بـابـا د شـل ګـزې په اديره کښې ښخ دے. د شل ګزې مشهوره اديره د پيښور چاونۍ نه دولس ميله قطب لورې ته د پيښور ورسک سړک په غاړه مشرق رويه واقع ده. سړک ته نزدې د څو قدمونو په فاصله د اديرې ټولو نه مشهور قبر د شيخ پوخ خان يا پوه خـان بـابـا قبر او ورسره قبر ئې د زوي شيخ پوليل خان دے. د اديرې مجاور ماته ووئيل چې د شيـخ بـابا اصل نوم کمال خان او په خټه بازيد خيل پښتون او د تودې وسيدونکے وهٔ. او ځان ئې د شيـخ بـابا نمسے بالهٔ. د دې قبر نه نمرخاتهٔ لورې ته په لږه فاصله يوه چارديواري ده چې پـکښې پـهٔ پيـنـځـو قبرونو کښې يو جنوب قبليز ګټ کښې د شيخ کمال بابا قبر يادېږي. او مـجـاور راتـه ووئيـل چـې د دهٔ څـوک عزيزان او خپل خپلوان نشته. کهٔ دغه قبر کښې هم هغه ليـونے پـروت وي چـې چـا د پښتـون پـه ننـګ بـال بـچ، خپل خپلوان، اميري سرداري او مـنـصـبـداري هر څهٔ داؤ کړي له هندوستانه پښتونخوا ته مخه کړې وه نو ريښتيا ده چې څوک به ئې عزيزان او خپلوان وي داسې ميړونه خو تل په پښتنو کښې ورک دي.

دلتـه بـه دا يادګيرنه مناسبه بلکې اهمه وي چې د شيخ کمال زيارت (چې د ناستې ځائے يـاديـږي) اګر کهٔ د خليلو په حد حدود کښې د پيښور ښار او ايلم ګودر په لاره کښې او د شيخ کـمال الدين او د عبدالقادر له ايلم ګودره په پيښور حملې سره ئې تړون جوت دے. د شل ګزې اديره د باړو زوخيلو په زمکه کښې ده خو له ننه لږه موده اګاهو د خليلو او داؤدزو ګډه اديره وه او ګـونـدې اوس هـم کـلـه نـا کله هم دغه شان پکاريږي. (په دغه موضع د زيات تفصيلي بحث دپاره وګورئ د ليکونکي کتاب "آن اے فارين ايپروچ ټو خوشحال ص ۲۹ تر ۳۲)

تاسو لیږ وړاندې (ص ۱۷۱ نوټ ۱۶، ۱۷) د بهادر خان نامې د دوؤ تنو ذکر ولوست (۱) بهادر خان او (۲) د خان جهان لودي رشته دار. نو وړومبے بهادر خان د دریا خان داؤدزي باقلزي زوے او د شیخ کمال الدین خوریے دے چې د مغلوالي په تاریخونو کښې عموماً د بهادر خان روهیله په نامه یاد شوے دے. د دریا خان څلور نور زامن هم وو. (۱) محمد خان (۲) عنایت خان چې د بهادر خان سکه وروڼه وو او (۳) جلال خان او یوسف خان چې مور ئې رابعه نومیده. او د عبدل مغل خیل ګګیاني لور وه. چې د یادګار سلف د مؤلف د بیان له رویه د ببړی بي بي د وفات نه وروستو دریا خان ورسره وادهٔ کړے وهٔ.

(د یادګار سلف د تالیف تر وخته ۱۳۵۸ هجري مطابق ۱۹۳۹ ء د ببړی بي بي پوخ قبر د ضلع میرټهه په پورټهه (باره بستي) نومے کلي کښې موجود وهٔ. دریا خان سره د ببړی بي بي د وادهٔ په وخت شیخ رکن الدین دغه کلے خپلې لور لره په پرونې کښې ورکړے وهٔ. خدای خبر چې د برعظیم د تقسیم ۱۹۴۷ ء نه پس به دا قبر پاتې وي که نه. دلته به دا یاد آوري سودمنه وي چې پېرنګواله کښې د یو پي کمشنری (قسمتونه) یا برخې جوړېدے نو باره بستي به دواړ کمشنرو کښې راغله. د روهیلکنډ کمشنري به مراد آباد ضلع کښې او د میرټهه کمشنري به بلند شهر او میرټهه ضلعو کښې)

د بهادر خان نوم سرابدال او دغه بل ئې د منصبداری او امیری خطاب وهٔ. سرابدال د شاهجهان د شهزادګی د زمانې ملازمانو او ملګرو کښې وهٔ. په ۱۰۱۵ هجري کښې پیدا شوے وهٔ. په ۱۰۳۲ هجري کښې ئې د اوولسو کالو په عمر کښې د شاهجهان (هغه وخت شهزاده خرم) ملازمت اختیار کړو. او ډیره زر ئې خپله میړانه او قابلیت ښکاره کړل. او د بهادر خان خطاب ئې بیاموند او په ډیره پر آشوبه زمانه او سخت وخت کښې هم چې ډیرو نزدو او باوري نوکرانو شهزاده سره ملګرتیا پرېښې وه بهادر خان ئې له هغو څو پتیالو ملګرو وهٔ چې په مرسته او د ملګرتیا او نوکری په ننګ پالنه او حق ادا کولو ټینګ ولاړ وهٔ. نو شاهجهان هم د تخت نشینی نه زر پس دا حکم وکړو چې د دغو کسانو چې بهادر خان هم پکښې وهٔ نامې دې په بادشاهي دفتر کښې د شهزادګی د زمانې د ملګرو په طور ثبت کړے شي. بهادر خان لره ئې د چار هزاري ذات دو هزار سوار منصب او خلعت خاصه و خنجر مرصع مع علم و اسپ طویله خاص بازین مطلا و فیل او پنځوس زره روپی نغدې ورکړے. او د هغهٔ په التماس ئې د سکونت دپاره ګډهه تانتوا (چې وروستو د دهٔ په نامه په بهادر ګړهه مشهور شو) نسلاً بعد نسلٍ په طور د انعام وروبخښلو. او څو شپو ورځو پس ئې د کالپی سرکار چې د سهنده قصبهٔ هم پکښې شامله وه په طور د جاګیر ور وبخښلو. شاهجهان لا باچا شوے نهٔ وهٔ چې دریا خان د هغهٔ فوځ سره خپله وابستګي ختمه کړې وه. خو چې شاهجهان باچا شو نو چې په نورو امیرانو مهرباني کیدے شوے نو د هغهٔ منصب او درجه هم

زیاته کړې شوه. دغه وخت د شاهجهان او خان جهان د تعلقاتو خرابی او غلط فهمو د وروستي د بغاوت صورت اختیار کړے وۀ. دریا خان ته هم د قاموليٰ او پښتونولی ننګ ودریـد او هغه له خان جهانه ملګرے شو. او هم د دې بغاوت په دوران کښې سره د خپل زوي محمد خانه قتل شو. بهادر خان په داسې حالاتو کښې هم د شاهجهان ملګرتیا پرې نښوده. بلکې بنۀ په کلکه ئې د هغۀ حمایت او خدمت وکړو. او هم د هغۀ له لوريه وجنګید. دې د شاهجهان د عهد له ډیرو لویو امیرانو او د سر د فوځي شخصیتونو څخې یو دے. د دۀ د ورور جلال میرانه او جوهر هم د شاهجهان په عهد کښې ښکاره کیدل شروع شوي دي. او د هزاري ذات هزار سوار منصب ته رسیدلے او د دلیر خان خطاب ئې حاصل کړے وۀ. او د اورنګ زیب په عهد کښې ئې درجه په درجه د ترقی نه پس د هغۀ د عهد په ډیرو لویو امیرانو او جرنیلانو کښې ئې جوت مقام بیاموند. (وګورئ یادګار سلف ص ۱۴ـ ۴۲) د شیر خان شیخ رکن الدین د کورنی حالات ص ۹۳ تر ۱۱۶/۲ خصوصاً ص ۹۳ تر ۹۸. د دریا خان د کورنی حالات او ص ۱۵۱ تر ۱۸۳ د دریا خان سوانح عمري. او په مآثر الامرا جلد ۲ کښې د دریا خان روهیله سوانح عمري ص ۱۸ تر ۲۱ او هم د دې کتاب جلد ۱ کښې د بهادر خان روهیله سوانح عمري ص ۴۱۵ تر ۴۲۴ او په یادګار سلف کښې د بهادر خان سوانح عمري ص ۱۸۵ تر ۲۷۹. بادشاهنامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۳۱۱، ۳۱۴ او عمل صالح جلد ۱ ص ۳۷۷ـ ۳۸۱ او تاریخ خان جهاني ۲ ص ۸۷۳ مطبوعه ایشیاټک سوسائټي ډهاکه یعنې ن ح جلد ۲) په ن ح کښې د دریا خان د زامنو نامې بهادر خان، دلیل خان او یوسف خان لیکلي دي. ظاهره ده چې دلیل خان نامه د دلیر خان په ځائے لیکلې شوې ده. او بهادر خان او دلیر خان دواړه نومونه نه بلکې په ترتیب د سرابدال او جلال خطابونه وو. تاریخ خان جهاني مخزن افغاني په ذوالحجه ۱۰۲۱ هجري کښې تمام شوے وۀ. د یادګار سلف له رویه سرابدال چې د دریا خان مشر زوے وۀ په ۱۰۱۵ هجري (۱۶۰۶ء) کښې پیدا شوے وۀ او په ۱۰۳۲ هجري (۲۳ـ۱۶۲۲ء) کښې ئې د نوکری ابتدا وه. (ص ۱۸۵) نو په ۱۰۲۱ هجري (۱۳ـ۱۶۱۲ء) د عهد جهانګیري په اتم کال د سرابدال او جلال په ترتیب د بهادر خان او دلیر خان په خطابونو یادیدل له بحثه خارج دي. معلومیږي چې دغه حصه وروستو زیاته کړے شوے وي. یادګار سلف د وفات په وخت د دریا خان عمر نهۀ څلویښت کاله ښیي. (ص ۱۷۸) یادګار سلف د دریا خان د دویمې بي بي دلیر خان او د یوسف خان د والدې په حقله دومره لیکي چې رابعه ئې نامه په قام ګګیانی وه. ن ح جلد دویم ئې راته د پلار نوم هم ملک عبدل ښیي او په ګګیانو کښې ئې مغل خیل یادوي.

د دغه بغاوت په دوران کښې د عنایت خان، جلال خان او یوسف خان ذکر نهٔ راځي.
سوا لـه دې چې کوم وخت د خان جهان د قتل نه پس د هغهٔ زوی خان جهان په سهینده کښې د دریا خـان کـونډې بي بي (دریا خان څو ورځې شپې اګاهو قتل شوی وهٔ) څخه پناه واخسته نو له هغه پسه چې د سید عبدالله خان بهادر په مطالبه بي بي دې باچهې فوځ ته سپارلو نو جلال خان نې ورسره لیږلی وهٔ. د یادګار سلف مؤلف دغه خبره لیکونکی وائي چې هغه وخت هغه د خپـل فرزند بهادر خان په جاګیر کښې په سهینده کښې میشته وه. (ص ۱۸۱، ۱۸۲) هرکله چې عبیـد الله خـان پـخپـلـه لیـکي (ص ۹۳) چې رابعې بي بي سره دریا خان د ببرې بي بي له مـرګـه پس وادهٔ کړی وهٔ نو د فرزند نه به مونږ بنزی مراد اخلو. د دغه خاندان نور حالات هم به مخ راتلونکې دي.

۳. دلتـه پـه ن د کښـې دا عبـارت زیـاتې دی ... وخوت دی لا په تیراه وهٔ. هغه مهم لا نهٔ وهٔ فیـصـل شـوی چـې خبـر د جهـانـګیـر د مرګ ظفر خان ته ورسید. کوچ په کوچ و پښاور ته راغـی. د جهـانـګیـر د مرګ خبر شائع شهٔ. شاهجهان لا په تخت نهٔ وهٔ ناست نذر محمد خان امـام قـلي خان دواړه ورونه چې د ماوراء النهر بادشاهان وو دا وخت نې غنیمت وشمارهٔ نیت نې د کابل د اخستو وشهٔ. هر چند مشر ورور نذر محمد خان امام قلي خان منع کاوهٔ اما منع نهٔ شهٔ له پینځلس زره سورو سره په کابل راغـی کوټ نې د کابل محاصره کړ. ظفر خان چې له تیـراهـه پښـاور تـه راغـلـی وهٔ دا تشویش نې علاوه د نورو شهٔ بعض لښکر، خان پخوا د کابل کـوټ تـه واستاوهٔ دي هم خود متوجه د کابل شهٔ چې په علي مسجد ورغـی. د علي مسجد تر تـنـګـي تیـر شهٔ آفریدي چې په قابو ورته ناست وو یورش نې پرې وکړو. ډیر عالم نې ترې مړ کـړ مال اسباب نې سره تالا کړ شهٔ. یک سر دو ګوش په بدحال خلاص شهٔ. پښاور ته راغـی هـرګـاه چـې شـاهـجهـان پـه تـخت کښیناست. خواجه ابوالحسن چې پلار د ظفر خان وهٔ او مهـابـت خـان پیـش و پـس نـې دواړه د شـلـو زرو سـورو سره د کابل په لور رارخصت کړل. وزبـک چـې یـغـماچیان وو کابل نې تاخت و تاراج کړ. پس له دریو څلورو میاشتو وجاروتل لاړل. دا خبـر مهـابت خان ته په سرهند ورسید له سرهنده بادشاه په ستنه وبالهٔ. ابوالحسن تر کابل راورسید. پس له هغهٔ ابوالحسن بادشاه تغیر کړ. صوبه داري نې د کابل د لښکر خان په نامـه مـقـرر کـړه. د لښـکر خان په صوبه داری کښې په هغه وخت چې دې په کابل کښې وهٔ اقـعـې د کـمال خان لکه پخوا نې بیان وشهٔ مخ ښکاره کړ. عبدالقادر له تیراهه کمال خان له بـلـم ګـودره خـروج آغـاز کـړ. (لکه چې د دې صفحې په دویم نوټ کښې مونږه لیکلي دي بـدالـقـادر د شیـخ کـمـال الـدیـن خـان په بلنه راغلی وهٔ شیخ خان نې مخې لره ایلم ګودر ته

ورغلے وۀ او دواړه له هغه ځایه ګډ په پینبور د حملې په غرض روان شول.) اکثر پښتون الوسات د پښتنو ورسره ملۀ شول د پښاور کوټ ئې محاصره کړ. سعید خان د بنګښ فوځدار په کوهاټ کښې وۀ راغے د پښاور په کوټ ورننوت. جنګونه ډیر وشول لکه خوئ د پښتنو د نا اتفاقی دے هیڅ کار ځنې ونۀ شۀ. پس له هغه سعید خان دلاسه کړل. دواړه زومان د احداد يو محمد زمان بل صاحب داد او نمسے د احداد چې قادر داد د محمد زمان زوے وۀ او علائي د احداد عورتینه خور د رشید خان وه. (الله داد مخاطب په رشید خان انصاري زوے د جلال الدین زوے د بایزید ارمړ مشهور په پیر روښان یا تاریک) له نوره ګروهه سره چې همراهیان د عبدالقادر د احداد د زوي وو حضور ته روان کړل. په تاریخ غره جمادي الثاني سنه هجري زر اووۀ څلویښت په اکبر آباد کښې ئې ملازمت د شاهجهان وکړ. بادشاه محمد زمان او صاحب داد په اس او خلعت سره سرفراز کړل. او نور همراهیان ئې په خلعت ونمانځل. رشید خان ته ئې چې صوبه دار د تلنګانه وۀ واستول او هم دا کال کریم داد کور زوے د جلال الدین نمسے د پیر روښان چې له هغې جماعې علائي وغیره چې سعید خان په عهد په قول راوستل. بادشاه ته ئې واستول. دوي ځنې پاتو شوي وو په دا کوهستان کښې له لوحانیه تر خوسته تر تیراهه ګرزیدۀ فساد اندیشي ئې کوله. ورور ئې نظر محمد خان د بلخ بادشاه ته استولے وۀ هغۀ اشارت د فساد ورته کړے وۀ. چې لاس مو رسي په دغه کوهستان کښې ئې کانئ. سعید خان پینځلس زره پیاده د پښتنو د اولس او راجه جګت سنګهه او پردل خان بریخ او عزت خان او سید ولي او دوه زره سوارۀ له خپلو تابیانو له یعقوب کشمیري چې د سعید خان وکیل وۀ ورپسې تعین کړل. پخوا تر رسیدۀ د مغل د لښکر حدود ته د نغر ورور د کریم داد چې په اشارت د نذر محمد خان چې په نغر ناست وۀ فساد اندیشي ئې کوله. د هزار میر ورکزي میر حاجي خیل د ورور سره د هغو عالمو د لاسه مړۀ شول. په شاهجهان نامه کښې ئې لیکلي دي چې هغه اولس عالم د خپل مال د محافظت دپاره جمع شوے وۀ لاري ئې نیولے وے. دوي پرې راغلۀ مړۀ ئې کړل. او کریمداد کور د دۀ ورور د قبیلو سره په هغو غرونو کښې ننوتلي وو. د کښیه د مغل لښکر وته میشت وۀ واوره باران پرې نازل شول آذوقه هم تمامه شوه کریمداد د ورور د قبیلو سره هغو عالمو دستګیر مغل ته ورکړ. دا حقیقت چې په عرض د بادشاه ورسید سعید خان ته حکم د دۀ د قتل راغے. مایۀ فساد له کوهستانه ووت.

(ورسره وګورئ بادشاهنامه جلد ۲ ص ۱۲ تر ۱۴ او عمل صالح جلد ۲ ص ۲۶۷ تر ۲۶۸) د پوردل خان بریخ نه پس نامه په بادشاهنامه کښې عزت خان او عمل صالح کښې

غیرت خان او ن د کښې څهٔ مشتبه غوندې عزیت خان ده. دغو واقعاتو کښې ځنې د جهانګیر د عهد د اواخر او د شاهجهان د عهد د اوائل تر مینځه. د خان جهان لودي په هندوستان او د شیخ کمال الدین په پښتونخوا کښې له خروجه وړومبې په پښتونخوا کښې شوي وو او ځنې د شاهجهان د عهد وړومبۍ عشرې سره او ځنې د دویمې عشرې اوائل سره (لکه د ړوند کریمداد قتل وغیره) تعلق لري. د پیر روښان د مشر زوي شیخ عمر د زوي احداد او د هغهٔ د پیشروانو حالات چې د اکبر او جهانګیر عهد سره تړون لري او د احداد د جانشین عبدالقادر حالات چې د جهانګیر او شاهجهان عهد سره تعلق لري د هغو او ځنې نورو روښانیانو حالات په راتلونکو پاڼو کښې هم بیانیږي. هورې هم د پیښور د محاصرې ذکر راځي. لکه چې په دغه صفحه ۱۷۲ د شیخ کمال الدین ذکر شوے دے. د هغهٔ د رول صحیح آئینه داري نهٔ کوي او په آئنده صفحو کښې ئې ذکر هم د پیښور د محاصرې په لړ کښې نهٔ راځي او کهٔ هر څو د ن د په عبارت کښې د تحریک، بغاوت یا خروج دپاره الفاظ "واقعې د کمال خان" استعمال شوي دي د شیخ خان د عظیم رول د نظر د وړاندې هغهٔ ته مناسب باج نهٔ ادا کوي. د دې خبرې ډیر جوت قرائن دي چې د پښتنو دا قومي تحریک د عبدالقادر روښاني د غداری یا وهم وسواس او بزدلی په وجه منجمله له نورو وجوهاتو ناکامه شوے وهٔ. او هغهٔ هغه وخت شیخ کمال الدین او د هغهٔ ملګري یوازې پرېښودِ چې د شمال مشرق او جنوب مغرب پښتنو په شریکه د پیښور محاصره کړې وه. او مغل او د هغوي ملګري ډیر نازک صورت حال ته وړاندې وو. او بیا ئې څهٔ موده پس د مغلو اطاعت او د هغوي نوکري هم قبوله کړه. په راتلونکو پاڼو کښې افضل خان لیکي چې د محاصرې ابتدا اول عبدالقادر کړې وه. په دې وجه ورسره د نورو پښتنو حسد پیدا شو او د مخالفت خبرې ئې ورسره راواخستے دهٔ ووې هسې نه چې مې دستګیر مغل ته ورکړي نو سره د خپلو ملګرو لاړ. مغلو چې دا ولیدل نو له کوټه راووتل جنګ ئې وکړ پښتانهٔ ئې مات کړل. او لکه چې زیر نظر اقتباس کښې وائې نور هم ډیر جنګونه د مغل او پښتون تر مینځه وشول. د پیښور جنګ د ۱۰۳۹ هجري په اخره میاشت (جولائي اګست ۱۶۳۰ ء) کښې شوے وهٔ. او اګر کهٔ د عبدالقادر د مغلو سره د خبرو اترو د شروع کیدو او روغې وخت خو معلوم نهٔ دے. خو د بادشاهنامې جلد ۱ حصه ۲ ص ۶۶، ۶۷ له رویه د هغهٔ په دربار کښې حاضري د عهد په اتم کال په ۳ شعبان ۱۰۴۴ هجري (جنوري ۱۶۳۵ ء) کښې شوې وه او زر وروپسې ورته د هزاري ذات شش صدي سوار د منصب او هم د خلعت او تورې د ورکړل کیدو ذکر دے. (ص ۷۰، ۷۱) او بیا ئې ص ۳۰۹ د عهد په نهم کال ۱۰۴۵ هجري مطابق ۳۶-۱۶۳۵ ء کښې ئې د مرګ ذکر

هم دي. ملا محمد صالح د عبدالقادر په دربار کښې د حاضرۍ وغيره خبرې د عهد په اووم کال کښې د ۱۰۴۳-۴۴ هجري بيانوي. عمل صالح جلد ۲ ص ۷۵-۷۷. دبستان مذاهب ئې ص ۲۵۳ مرګ په ۱۰۴۳ هجري کښې بيانوي. او اګر که د بادشاه نه ورته د منصب بزرګانه د ورکړل کيدو ذکر هم کوي خو تاريخ يا کال ئې نۀ ښيي. د مآثر الامرا جلد ۲ ص ۲۳۷ د بيان له رويه د کابل په صوبې کښې د تعيناتي په دوران کښې مړ وۀ. کۀ هر څو مونږ سره د عبدالقادر د غدارۍ براه راست ثبوت نشته دغه واقعات مونږ ته د هغۀ په باب د مجرميت د رائ قائمولو کلکه نغوته کوي. د افضل خان د پيدائش نه دغه ډير ورومبے شوي وو. د هغۀ په بيان ص ۲۱۲ کښې چې د عبدالقادر لره کوم اهميت ورکړے شوے او ټينګت لره ئې کوم عذر تراشلے شوے دے هسې بريښي چې په هغو قصو مبني دے چې کومې هغۀ له خپلو ماماخيلو اوريدلے وے. کۀ هر څو په ورکزو کښې د هغۀ د ماماخيلو خانګه د هغۀ د مور له طرفه د نيکۀ ملک تور عبدالعزيز خيل په وجه د مغلو ملګرې وه خو د پښتنو قبيلوې جنبه دارې هسې ده چې د خپلې قبيلې به د نورو په مقابله کښې درنه وائي. او د هغوې په کمزورو او غلطو به پرده اچوي. هر کله چې د عبدالقادر په لښکر کښې د ورکزيو يوه معقوله ګڼه وه نو د افضل خان ماماخيلو به اورمړو د شيخ خان په مقابله کښې عبدالقادر زيات درنولو

۴. د دې جنګ ذکر ورومبے ص ۱۷۰، ۱۷۱ کښې راغلے دے دلته چې کوم سرے د رضا بهادر په نامه ياد شوے دے هورې خدمت پرست خان بللے شوے دے. په بادشاهنامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۱۱۸ - ۱۲۳ کښې هغه رضا بهادر مخاطب به خدمت پرست خان ياد شوے دے. او لکه چې خافي خان وائي رضا بهادر د خدمت پرست خان عرف وۀ. (منتخب اللباب حصه ۱ ص ۴۱۴) دلته د څوکو د تعيناتي ذکر محل نظر دے. خان جهان لودي چې له اګرې ووت نو بادشاهي فوځ سره د هغو اميرانو او منصبدارانو چې ورومبے ئې ذکر شوے دے ورپسې روان شو د رضا بهادر خدمت پرست خان د سردارۍ ذکر هم صحيح نۀ ښکاري. په دغه فوځ کښې له هغۀ ډير زيات لوے منصبداران موجود وو.

۵. ميانه د سړبنو پښتنو قبيله ده. مياني د ترينو، بړيڅو، ارمړو او شيرانيو نزدې عزيزان دي.

۶، ۶ الف. چانده د صوبه جات متوسط ضلع ده. چې دکن سره لګيدلې ده او ديو ګړه يا ديو ګري په حيدر آباد دکن کښې د دولت آباد کوټ دے. دلته به دا يادګيرنه مناسبه وي چې د پيرنګوالې د صوبه جات متوسطه بمبي او مدراس ډيرې برخې د مغلوالې په دکن کښې شاملې وے. او د هغه وخت دکن له هغه رياسته چې مونږ ئې د حيدر آباد دکن په نامه پيژنو ډير وسيع وۀ.

ص ۱۷۳

۱. پښتو عبارت "چې سکندر بادشاه". سکندر عادل شاه ثاني په کوچنيوالي کښې په ۱۰۸۳ هجري (۱۶۷۲ء) کښې د خپل پلار علي عادل شاه جانشين شو او په ۱۰۹۷ هجري ۱۶۸۶ء کښې د اورنګ زيب له لاسه د بيجاپور د سلطنت خاتمه وشوه نو سکندر عادل شاه ئې بندي کړو. او درې کاله پس هم په بند کښې ومړ

۲. جنجي مشهور غرئيز کوټ دے. د مغلوالي دکن او د پيرنګوالي په مدراس صوبه کښې د جنوبي ارکاټ په ضلع کښې راځي. د مدراس ښار نه سهيل خاتيز او د پانډيچري د فرانسوي بندرګاه نه قطب لويديز ته دے.

۳. ن ا "حسن خان فرملي". ن ب "حسن خان رملے . (مشکوک). ما "فرملي" دې دپاره حذف کړ چې ورسره ئې په واضحو الفاظو کښې د پيښور مومند غوريه خيل هم ليکلي دي. غوريه خيل سړبني دي. فرمليان د غورغوشتو وصليان دي. په پيښور کښې د يوسفزيو په تپه ضلع مردان صوابی تحصيل کښې پرمولی نومے کلے شته. موثق نه يم چې له کومه سببه دا هسې نوميږي. بل کلے په دغه نامه د يوسفزيو تپې ته نزدې د پنجاب په چچ کښې هم شته. ممکنه ده چې په اصل نسخه کښې حسن خان روهيلے وي. کۀ هم دغسې وي نو مشهور مبارز خان روهيله (چې هغه هم غوريه خيل وۀ او حسن خان نوميد) دې نۀ شي ګڼلے مبارز خان بايد چې ښاغلي لوستونکي ياد آوري وکړي (ص ۱۷۲ نوټ ۲) د شيخ رکن الدين وررور وۀ نو دې په غوريه خيلو کښې داؤدزے بازيد خيل وۀ. مبارز خان چې د عهد شاهجهاني له لويو منصبدارانو او امراؤ څخه وۀ او د باره بستي د حسن پور ضلع مراد آباد يو پي باني دے. په اواسط ۱۰۵۴ هجري کښې وفات شوے وۀ. (وګورئ يادګار سلف ص ۷۵ تر ۸۶ او بادشاهنامه جلد ۲ ص ۳۸۶)

۴. زما د وړاندې عبارت "..... د بادشاه له لوريه د دوي چې په دا ملک کښې د دوي اقامت ښۀ نۀ دے."

۵. دا بيان او هم د تاريخ مظفري د اخبار محبت په حواله دا روايت چې دريا خان د توپک په مړدکي سخت ژوبل شو نو بهادر خان د شا نه ورغے او د دريا خان د وصيت په موجب ئې خپله انګشتري د هغۀ په خلۀ کښې واچوله د معتبرو تاريخي اسنادو مخالف او هم د څنې مسلماتو په موجودګی کښې غير اغلب دي. حقيقت دا دے چې په کوم جنګ کښې دريا خان وژلے شوے وۀ بهادر خان هلته پکښې وۀ نه. او نۀ ئې هغه وخت د محل وقوع په خواؤشا کښې موجودګي ثابته ده. واقعات داسې دي چې په دهولپور کښې چې خان جهان لودي مات

شـو نـو د راجـه جهجهار سنگهه بونديله تر ملکه ئې خان ورسولو دلته ورسره د راجه جهجهار سـنگهه بونديله زوي بکرماجيت کومک وکړ او تر گونډوانې ئې ورسولو. له دې قبله په پلار او زوي بـادشـاهـي عتـاب وشو. په دکن کښې د شکست خوړلو نه پس (ص ۱۷ نوټ ۱۲ تر ۲۰) بيـا قـطـب لوري ته وجاروت. او په واپسی کښې د راجه جهجهار سنگهه بونديله ملک تـه ورسيـد نو څنگه چې بکرماجيت خبر شو پرې ئې د چپاړ کولو دپاره لښکر تيار کړو. دغه وخت چې خان جهان د خپل فوځ په مخکښنی برخه کښې وۀ لرې تير شوے وۀ خو دريا خان چې د فـوځ پـه وروستـي برخه کښې وۀ، هغه او بکر ماجيت سره برابر شول. او دريا خان په ډيـره مـړانـه مقابلې ته ور وړاندې شو په جنگ کښې د توپک يو مردکے ئې په سر برابر شو او پـريـوسـت. (بـادشـاه نامه ''دراثنائے زدوخورد تفنگے برسرآن تهی مغز رسیده کارش به انجام رسانید''. عـمـل صالح: ''قضارا تفنگے که اس بس درین مقام بجا افتاده آنرا لطیفه غیبی توان خواند برسراو خورده از پادرآمد''. مـحـمـد خان نومے زوے ئې چې په جنگ کښې ورسره وۀ هغه هم سره د څلورو سوؤ نورو پښتنو شهيد شو. هر چې پاتې شـول خان جهان ته ئې څان ورسولو بکرماجيت د دريا خان او محمد خان سرونه پريکړل او بـادشاه لره ئې واستول. د دې خدمت په بدل کښې بادشاه د بکرماجيت منصب زيات کړو او ورلره ئې د جگ راج خطاب هم ورکړو. (بادشاهنامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۳۳۸، ۳۳۹، عمل صـالـح جـلـد ۱ ص ۴۰۱، ۴۰۲، يادگار سلف ص ۱۷۷، ۱۷۸، ۱۷۹) لکه چې عرض وشو دريـا خـان پـه سـر د توپک په مردکي لگيدلے وۀ. نۀ خو د تاريخ مرصع او نۀ د اخبار محبت مـؤلف د دريـا خـان نـعش ليدلے وۀ. او هر کله چې بادشاه لره د هغۀ سر ورستولے شوے وۀ نو سـر کاري مؤرخ يعنې د بادشاهنامې مؤلف به ئې د زخم او کيفيت نه خبر شوے وۀ. د دريا خان د پرهار ځائے او د آله ضرر نوعيت داسې وۀ چې اغلبه ده چې د دريا خان مازغۀ به الوتي وو يا ډيره سخته صدمه به وررسيدلې وه نو د ژوبل کيدو نه پس د هغۀ خبرې کول ډير زيات غير اغلب دي لکه چې د يادگار سلف مؤلف ليکي. د وفات په وخت د دريا خان عمر ۴۹ کلونه وۀ.

۶. دا ځـائے دې د دريا خان هندوستان وته د تلو د سبب په حقله بحث سره چې لږ وړاندې مو کړے دے مقابله شي. له دې ځايه هم ښکاري چې دريا خان چا هندوستان ته بوتلے نۀ وۀ بلکې پخپله تلے وۀ.

۷. خـان جهـان لودي چې کوم وخت له بادشاه باغي شوے وۀ د هفت هزاري ذات هفت هزار سـوار دو اسپه سه اسپه منصبدار وۀ او د بادشاه او بادشاهزادگانو نه پس ئې په مملکت کښې دريـم پـوزيشـن وۀ. پـه امـراؤ او نـورو مـنـصبـدارانـو کښې د خان جهان نـه يو د آصف خان ابوالحسن (چې د بادشاه سخر وۀ) واحد منصب نهۀ هزار ذات نه هزار سوار دو اسپه سه اسپه

زيات وۀ. اګر کۀ د مهابت خان منصب د خان جهان له منصبه برابر وۀ خو هر کله چې د جهانګير د وفات نه پس خان جهان سمدستي شاهجهان ته خان ونۀ رسولو نو له دې قبله ترې مهابت خان په ياد شوې (هفت هزاري ذات هفت هزار سوار دو اسپه سه اسپه) ورومبے فائز شو.

دريا خان چې خان جهان سره ملګرے کيدو نو د چار هزارې ذات چار هزار سوار منصب دار وۀ. د زوې بهادر خان په حقله ئې چې لکه بره د انتقاد لاندې راغلې خبرې غلطې دې نو دا هم غلطه ده. چې په دغه موقعه او صله کښې ورله بادشاه د پلار منصب ورکړو بهادر خان هغه وخت هم چې کوم وخت خانجهان بغاوت کولو له امراؤ او لويو منصبدارانو څخه وۀ. په دکن کښې خان جهان سره د جنګ د خدماتو په عوض کښې د زرو سورو په اضافه د چار هزارې ذات سه هزار سوار منصبدار شو.(ص ۱۹۰، ۱۷). بيا د بيجاپور برخلاف په مهم کښې سره د دې چې د شمير خو سرې ورسره وو په داسې ميړانه او زړۀ ورتوب ئې مقابله وکړه چې خپل پردې دواړه ورته حيران پاتې شول. دے او يوسف محمد خان تاشقندي دواړه سر تر پايه ژوبل پراتۀ وو. چې بيجاپوريانو واخستل او د خانه سره ئې يوړل او چې روغ شول نو هم ئې د خانه سره ايسار يا بندي کړل. شاهجهان، آصف خان، مرزا ابوالحسن په بيجاپور د حملې دپاره واستولو. او اګر کۀ بيجاپوريانو څۀ موده خو مقابله وکړه خو آخر ئې د روغې خواست وکړو. بهادر خان او يوسف محمد خان تاشقندي ئې رها کړل او څلويښت لکه روپۍ نغدې او څۀ جواهرات او هاتيان ئې بادشاه لره په طور د پيشکش ليږل قبول کړل. چې بهادر خان له بيجاپوره راغے او سره د يوسف محمد خان تاشقندي بادشاه ته حاضر شو (۲۲/شوال ۱۰۴۲هـ) نو د دواړو بادشاه ډيره قدر افزائي وکړله. او د نورو ډيرو مهربانو نه علاوه د بهادر خان په سورو کښې ئې پنځۀ سوه سوارۀ نور هم زيات کړۀ. او دغسې هغه د چار هزارې ذات سه هزار و پانصد سوار منصبدار شۀ. يوسف محمد خان تاشقندي په منصب کښې د ترقي سره د سه هزارې ذات پانصد سوار منصبدار شۀ. د مغلوالې د سرکارې آثارو نه معلوميږي چې د بهادر خان په خطابونو کښې يو خطاب چغتائي هم وۀ. چغته په مغلو کښې د هندوستان د بادشاهي خاندان قبيله وه. او ډيرو کمو، د شمير کسانو ته دغه خطاب د مغلوالې په ټول دور کښې ورکړے شوے دے. خو د يقين سره نۀ ده معلومه چې دا خطاب بهادر خان لره کله ورکړے شوے وۀ. په هر حال د يادګار سلف مؤلف ائي چې هم په دغه موقع ورکړے شوے وۀ. او دا هم ليکي چې پس له دې بهادر خان د خپلې ګشترئ په نګينه کښې دغه شعر وکنست:

حیات یافت دوبارہ ز لطف شاہ جہان
چوشد بہ جنگ دکن جان فشان بہادر خان

رد دکن دغه جنګ کښې چې د دولت آباد په خوا کښې په ۱۰۴۰ هـ کښې شوے وۀ. بهادر خان سره د
بایزید ارمړ دوه نمسي رشید خان (الله داد) انصاري د جلال الدین زوے او د پښتو عظیم شاعر مرزا خان
انصاري د نور الدین زوے او شهباز خان عرف شیرو روهیله هم وو. شهباز خان او یو زوے ئې او هم مرزا
خان قتل شول. رشید خان ژوبل شوے وۀ. (وګورئ راتلونکې ص ۱۸۴/۲].

(وګورئ یادګار سلف ص ۱۹۲ تر ۱۹۴ او بادشاهنامه جلد ا حصه ا ص ۴۲۳ و ۴۲۴). او بیا
چې د سرکار کالپی او قنوج (چې د بهادر خان په جاګیر کښې وۀ) له مضافاتو د ملکوسه
پرګنې عالمو په ۱۰۴۲ هـ کښې بغاوت وکړو او بهادر خان هغوي مات کړل او د باغیانو
مرکز بیرګاؤن کوټ ئې ونړولو نو په ۱۹/شوال ۱۰۴۴ هـ ئې بادشاه سورو کښې د پنځو
سوو سورو نوره اضافه وکړه. او خپل جاګیر ته ئې رخصت کړو. د بهادر خان دغې ترقۍ
سره د هغهٔ منصب د دریا خان آخري منصب سره برابر شو او د بهادر خان په منصب کښې
دغه اضافه د دریا خان له وفاته څلور کاله څلور نیمې میاشتې پس شوې وه.، (یادګار سلف
ص ۱۹۴ . ۱۹۵ او بادشاهنامه جلد ۱ حصه ا ص ۸۶،۸۷).

۸. د دریا خان لکه چې وړومبې (ص ۲/۱۷۲) وضاحت شوے دے پنځهٔ زامن وو.

ص ۱۷۴

د بیجا پور د مهم په لړ کښې چې کوم واقعات د بهادر خان په حقله بیانیږي له هغ
ضروري خبرې مختصراً د ص ۱۷۳ ـ ۲ کښې هم راغلے

۲. د مرزا ابوالحسن د آصف خان نه علاوه یمین الدوله او خان خانان خطابونه هم وو.

۳. وګورئ نوټ ۶ ص ۱۷۳ یو خوا خو افضل خان وائي چې بهادر خان ته ئې د پلار په مرګ
د هغهٔ منصب ورکړو چې لکه عرض وشو چارهزاري ذات چار هزار سوار وۀ. او دلته د بهاد
خان منصب هزار و پانصدي اصل او اضافه هم دومره بنیي. یعنې د غه وخت سه هزار
منصبدار شو. لکه چې مونږ په یاد شوي نوټ کښې وضاحت وکړو. دغه وخت د هغهٔ منص
چار هزاري ذات سه هزار سوار اصل وۀ او د پنځو سوو سورو اضافه پرې وشوه. دغه او نور
مهرباني چې پرې بادشاه کړې وه هم د سرکاري مورخ په خپلو الفاظو کښې ولولئ: "---
دیگر بہادر خان روہیلہ و یوسف محمد خان تاشکندی کہ کیفیت مردانگی و گرفتاریٔ ایشان نگارش یافتہ از لشکر نصرت اثر آمدہ بہ دولت زمین بو
رسیدند۔ بادشاہ مہربان قدرداں بہ مراحم بادشاہانہ کہ ہموارہ دربارہ بندگان وفاگزین عقیدت آئین مبذول است تدارک گزشتہ فرمو
ہر کدام را بہ مرحمت خلعت و شمشیر و سپر با یراق طلائی مینا کار و اسپ و فیل سر برافراختہ نخستین را بہ اضافۂ پانصد سوار بہ منصب چار ہزار
ذات و سہ ہزار و پانصد سوار بہ انعام بست و پنج ہزار روپیہ نقد و دومین را بہ اضافہ پانصدی ذات و ہشت صد سوار بہ منصب سہ ہزار

ذات ودو ہزار سوار و بہ عطائے نقارہ و بست ہزار روپیہ نقد مباہی گردانید۔" یعنې د دوارو د منصبونو د اضافې نه علاوه (چې په دې عبارت کښې ئې هم او په محوله نوټ کښې ئې هم ذکر شوے دے) هر یو له خلعت، توره، ډال او یراق (اسلحه یا مطلق سازوسامان) طلائي میناکار او اسپ او هاتي ئې ورکړ. او بهادر خان لره ۲۵ زره روپۍ او یوسف محمد خان تاشقندي لره ئې شل زره روپۍ نغدې او نغاره په طور د انعام ورکړهٔ. علم او نغاره بهادر خان ته آګاهو ورکړې شوې وو (جلد ۱ حصه ۱ ص ۲۲۳ و ۲۲۴).

ص ۱۷۵

ن د کښې دغه ځائے دا عبارت زیات دے: "او بیا په دولسم کال د جلوس د شاهجهان چې بادشاه په لاهور کښې وهٔ جګت سنګهه د تارا ګړهه د نور پور راجا له بادشاه آزرده شهٔ. فرارې ی وکړه. سبب د آزردګۍ دا وهٔ. راجه روپ (راجروپ) د جګت سنګهه زوے چې په سبب د مقتضائے وقت د پلار نه ئې آزردګي ظاهروله بادشاه دے په فوځداری د دامن کره کانګړه او خستل د پیشکش له هغو راجګانو تعین کړ. په هغه وخت چې بادشاه په کشمیر کښې وهٔ. د اجروپ نه بغي وشوه. هغه هسې کار لکه د بادشاه مرضي وه ترې ونهٔ شهٔ. پلار ئې جګت سنګهه و بادشاه ته وکښل چې کهٔ فوځداري د دغه محال ما ته مرحمت شوه ځلور لکه روپۍ ه له راجګانو د دغه ځائے د بادشاه په سرکار داخلې کړم. او تنبیه به د دغه ناخلف په واقعي کړم. آخر کار پلار ئې هم هسې ونهٔ کړهٔ. دواړه د بادشاه نه روګردان شول. په تهیه د ملعداری او اسباب د یاغي ګری مشغول شول. چې دا خبره بادشاه ته ورسیده. بادشاه فرمان دهٔ په طلب وکیښ ور ئې ستاوهٔ. عرضداشت ئې ځواب د فرمان مشتمل په ځو عذرونو رسال حضور کړل. بادشاه سند (سندر کبرائے) په تفحص احوال د دهٔ ورستاوهٔ چې حقیقت اقعي دریافت کا. سندر پس له ملاقاته په درګاه د بادشاه معروض کړهٔ "چې" (قوسین له ما ي) اګر چې په ظاهر ډیره فرمانبرداري ظاهروي چې یو کال دې زهٔ په وطن کښې وم او اجروپ به په حضور روان کړم. اما په وطن (باطن) کښې له لارې د فرمانبرداری جاروتلے ے". الخ. ("جاروتلے دے" نه پس غالباً چې دا الفاظ دي: "چې جوړښت ډیر لري").

د (ن د) د دغه عبارت مضمون د بادشاهنامې او عمل صالح بیان سره سم دے. راجه ګت سنګهه د راجه باسو زوے د مو او پیتهان د علاقو زمیندار او د دریو مشهورو کوټونو ، نور پور او تارا ګړهه ځښتن وهٔ. لکه چې پورته بیان وشهٔ زوے ئې راجروپ په دولسم کال شاهجهان د جلوس (۱۰۴۸ . ۴۹هـ) د دامن کوه کانګړه فوځدار مقرر شوے وهٔ. او بیا د جه جګت سنګهه په درخواست دغه فوځداري دهٔ ته حواله شوه. د تارا ګړهه نړیدلې قلعه ئې

بیا د سره جوړه کړه او نورې باغیانه سرګرمۍ ئې هم شروع کړې. نژدې چې بادشاه خپل مخبر سندر کبرائې ورولیږلو او هغۀ ئې برخلاف رپورټ راواستولو.

د راجه جګت سنګهـ قلاګانې د ګورداس پور ضلعې (مشرقي پنجاب) د پټهانکوټ نومې ځائې نه شمال ته واقع وې. د تارا ګړهـ کوټ د پیرنګوالې د چنبه راست د حدودو دننه د چنبه نه جنوب مشرق لورې ته او نور پور او مؤ له تارا ګړهه جنوب مغرب ته د ریاست له حدودو بهر واقع دي. مؤ څخو زیات جنوب مغرب ته دې. کانګړه او د کانګړې علاقه له دغو دریو له هر یوۀ ځایه جنوب مشرق ته دہ.

صـ۱۷۶

د راجه جګت سنګهـ خلاف د مهم آغاز په ۱۷/ جمادي الاول ۱۰۵۱ هـ (اواخر اګست ۱۶۴۱ ء) وشو. درې فوځونه یو د سید خان جهان باره، دویم د سعید خان او دریم د اصالت خان (میر عبدالهادي) د کمان لاندې روان شول. بادشاهزاده مرادبخش د دې دریو واړو فوځونو کماندار اعلي یا سپریم کمانډر وۀ. هغه د راجه محال کښې د سیالکوټ (د مغرب) له لوریه داخل شو. او سعید خان، راجه جې سنګهـ کچهواهه (مرزا راجه) او اصالت خان لره ئې د مؤ د نیوو حکم ورکړو. د شعبان په اواخر کښې بهادر خان هم سره د شپږ زره سور او پلي فوځه له اسلام آباده بادشاهزاده لره راغې او هم د دې میاشت په اخرې ورځ ئې د متال نومې ځائې ونیو. بادشاهزاده ولګید سید خان جهان باره ئې (چې ابتداءً د نور پور په تسخیر مامور وۀ) سره د بهادر خان او رستم خان د مؤ تسخیر لره ولیږلو. او اصالت خان ئې له هغه ځایه نورپور ته واستولو چې دواړه ځایه واخستل شول نو بهادر خان او اصالت خان ئې د تارا ګړهـ تسخیر لره ولیږل. او هم دلته خوشحال بابا سره د خپل دوه زره اولسي لښکره بادشاهي فوځ سره یو ځائې شو. (وګورئ زما په کتاب "خوشحال خان ختک" (اردو) صفحه ۴۲.۴۷ کښې د "مهم کانګړه" حال چې په بادشاهنامه، عمل صالح. مآثر الامراء او تاریخ مرصع مبني دې).

د معاصرانه سرکاري او غیر سرکاري دستاویزاتو د بادشاهنامې او عمل صالح د متفقه مندرجاتو له رویه بهادر خان د خان جهان باره او رستم خان په ملګرتیا د مؤ او د اصالت خان په ملګرتیا د تارا ګړهـ تسخیر کړې وۀ. نو د افضل خان دا لیکل چې بهادر خان اول راغې نو نورپور ئې محاصره کړ محل نظر دي.

۲. له دغه ځایه د خوشحال بابا عبارت شروع کیږي او د تارا ګړهـ تسخیر سره تعلق لري.

۳. یعنې جګت سنګهـ.

۴. ن ب "جمعدار". شيخ ظريف خان بازيد خيل داؤدزے او د شيخ ركن الدين د ورور شيخ يوسف خان د زوي شيخ الو خان زوے وۀ. شيخ ظريف خان د باره بستي د موضع گروره (ضلع بلند شهر) وسيدونكے وۀ. د عهد شاهجهان ورو منصبدارانو كښې دے. اورنگ زيب چې بادشاه شو نو د هغۀ د گرفتارولو دپاره ئې لښكر واستولو. خو شيخ ورته د خان سپارلو نه انكار وكړو او ورسره وجنگيدلو او قتل شو. بل شيخ ظريف د شيخ ركن الدين د ورور شيخ عمر د زوي شيخ جبيب زوے وۀ. يعني دې هم بازيد خيل داؤدزے وۀ. د بكراسي (باره بستي ضلع بلند شهر) وسيدونكے وۀ خو نۀ خو د دۀ په حقله معلومه ده چې منصب او ملازمت ئې وۀ او كۀ نه. او نۀ ئې څۀ نور حالات جوت دي. بې له دې چې لاولده وۀ. (يادگار سلف ص ۵۳ تر ۵۵ او ۵۶/۱) د ړومبني ذُوه وروڼه نور هم وو چې شيخ محمد انبيا خان او شيخ محمد اوليا خان نوميدل. شيخ محمد انبيا خان د شيخ عبداللطيف خان رئيس خانپور (باره بستي ضلع بلند شهر) مورث وۀ. د ۱۸۵۷ء په جنگ آزادی كښې انگريزانو په شيخ عبداللطيف خان د بغاوت الزام ولگولو او تورو اوبو (د اندمان جزيرو چې په بحرهند كښې د برما په جنوب كښې دي) ته وليږلو او هم هورې وفات شو (يادگار سلف ص ۶۱ ۷۴ او ۷۴/۱ شجره نسب ص ۱۲۸، ۱۲۹ او زما كتاب "خوشحال خان خټك" ص ۲۱۴).

۵. ن ب ايضاً.

ص ۱۷۷

دلته د خوشحال بابا عبارت ختم شو.

۲. ريسي پټيالـه د خټكو له علاقو د يوې علاقې نوم دے چې د كوهاټ ضلعې شمال مشرق برخه كښې راځي. د ريسي گودر په اباسين دے. له سرايه مراد سرائې اكوړه د خوشحال بابا مولد او مسكن دے چې د بابا غور نيكۀ ملك اكوړ خان ودان كړے وۀ. ملك پور به ئې هم ورته وئيل. له ريسي په كافي فاصله قطب لوري او د اټك له پوله تقريباً دولس ميله لويديز څخو قطب لوري ته د پېښور ضلعې په نوښهر تحصيل كښې دے.

۳. له دغه ځايه بيا د خوشحال بابا عبارت شروع كيږي چې د تركستان بلخ او بدخشان د مهم ابتدائي حالات چې په كال ۱۰۵۵هـ (۱۶۴۵ء) كښې واقع شوي وو. او سرف تر بدخشانه محدود وو بيانوي. د مهم دغه ابتدائي كاروائي چې امير الامراء علي مردان خان ئې نگران وۀ، د اصالت خان د سركردگي لاندې شوې وه. او امير الامراء ورلره له بادشاهي فوځه او له خپلو او د بهادر خان له تابينانو تقريباً لس زره سپاهيان مقرر كړي وو. (بادشاهنامه جلد۲ ص ۴۶۲ عمل صالح جلد۲ ص ۴۵۳ و ۴۵۴ عمل صالح زر كسان يادوي خو غالباً

چې دا غلطي ده د چاپي نسخې او کیدې شي چې د قلمي نسخې وي).
۴. د هـندو کوه کوتل طول. چې د کابل په قطب کښې د پنجشیر له سینده او درې تیر شو نو لا نور قطب ته چې له کوتل طوله واوړو نو د بدخشان په اندراب کښې داخل شو
۵. اصـالـت خـان کـه عـلي مردان خان؟ غالباً اصالت خان باشاهنامه او عمل صالح دواړو نه معلومیږي چې اصالت خان لره کومکیان مقرر شول نو امیر الامرا علي مردان خان ایسار شو او تـاخـت اصـالـت خـان او ډلـې ئـې کړے وهٔ. علاوه له دې خوشحال بابا وړومبے یوازې هم اصـالـت خـان یـاد کړے دے او د علي مردان خان ذکر ئې نهٔ دے کړے. نو دلته به هم اصالت خان یادوي.
۵(الف). د اندراب نه لویدیز ته او د خنجان نه خاتیز ته د اندراب د سیند په سهیلي غاړه.
۶ ن ا "راوتبنتیدل". ن ب "راوبښتیدل".
۶(الف). د دغـه خـوسـت نه مراد د پښتنو هغه علاقه نهٔ ده چې د تیراه سهیل لویدیز ته واقع ده بلکه د دغه نوم هغه علاقه ترې مراد ده چې د اندراب شمال مغرب او قطغن او تالقان جنوب ته واقع ده.

ص ۱۷۸

کوتل طول یا تول. وګورئ ص ۱۷۷ نوټ ۴.
۲. جلکه ، جلکا یا جلګا. زما د ورانديې پښتو عبارت کښې "حلکه"
۳. لکه چې بادشاهنامه (جلد ۲ ص ۴۸۶) کښې لیکلي دي دغه فوځ د ذوالحجې ۱۰۵۵ هـ په اخـرنـی ورځ (۱۷ فروري ۱۶۴۶ ء) له لاهوره د بادشاهزاده مراد بخش د کمان لاندې روان شـوے وهٔ. پـنـځوس زره سوارهٔ او لس زره پلي سره د ډیره سازوسامانه پکښې وو. امیرالامرا عـلـي مـردان خـان د بـادشـاهـزاده مـعـاون وهٔ. عـلاوه لـه هغهٔ په دغه فوځ کښې نور ډیر لوئے مـنـصـبـداران هـم شـامـل وو. د هراول د فوځ د مسلمانانو سرداري بهادر خان روهیله ته او د هندوانو پیشوائي راجه بیتهلداس ګوړ ته (چې دوه زامن ئې شورام او ارجن هم په هراول فوځ کښـې وو) وسپـارلـې شـوه. عـمـل صالح د دغه فوځ د روانګۍ وخت د ذوالحجې ۱۰۵۵ هـ اوائـل (جـنـوري ۱۶۴۶ ء) ښيي. (بـادشـاهـنـامـه جلد ۲ ص ۴۸۲ تر ۴۸۶ او عمل صالح جلد ۲ ص ۴۶۲ تر ۴۶۵).
۴. راجـروپ. د راجـه جـګـت سـنـګـهـ ولد راجه باسو زوے. (ص ۱۷۵ نوټ ۱) راجه جګت سنګهـ په بغاوت کښې د ناکامي نه پس اطاعت اختیار کړے وهٔ. هغهٔ د بلخ او بدخشان د مهم په دوران کښې د ۱۰۵۵ هـ په اواخر کښې په پیښور کښې د بادشاهزاده له لاهوره د روانیدو

نه ورومبي مړ شوی وهٔ. وګوری د راجه جګت سنګهه ولد راجه باسو سوانح عمري مآثر الامرا جلد۲ ص۲۳۸ تر ۲۴۱ وروستی صفحه. بادشاهنامه جلد ۲ ص ۴۸۱. عمل صالح جلد ۲ ص ۴۶۲ او د راقم کتاب "خوشحال خان خټک" اردو ص ۵۱ حاشیه ۳.

ص ۱۷۹

زما د وړاندې پښتو نسخې "نظر محمد خان". نذر محمد خان د توران والي وهٔ.

ص ۱۸۰

. راجه جګت سنګهه.

۲. قُندُز د اندراب او ناریں دواړو نه قطب ته د دریائے قُندُز په غاړه پروت دے. او د نظر د وړاندې زمانه کښې د بدخشان حاکم نشین یا صدر مقام وهٔ.

۳. د قُندُز جنوب او د اندراب شمال.

ص ۱۸۱

خلم یا تاشقرغان له قُندُزه قبلې لورې ته بلخ کښې واقع دے.

۲. آستانه حضرت امام یا آستانه حضرت سلطان؟ حضرت امام له قندزه شمال ته او له خلمه شمال مشرق او حضرت سلطان له قندزه جنوب مغرب ته او له خلمه جنوب څخو مغرب ته واقع دے.

۳. له خلمه او مزار شریفه مغرب ته او له حضرت امامه مغرب جنوب او له حضرت سلطانه شمال مغرب ته واقع دے.

۳(الف). د کهمر د سیغان دوآبه د کابل نه شمال مغرب ته د بامیان په شمال کښې او له حضرت سلطانه جنوب ته ده.

۴. زما د وړاندې نسخو کښې "جنکو". ممکنه ده "جنګو" (د خټکو د لهجې سره سم "جنګیو") وي. جنګی په پښتو کښې د ګڼو ونو مجموعې ته او هغه ځائے ته چې دغسې ګڼې ونې پکښې ولاړې وي وائي. ما د ترکی لفظ دې دپاره غوره کړو چې د ترکستان د مزکې واقعات دي. غالباً هم د ترکی تورے درغ یا مرغه (مرغزار) دپاره پکارولے شوے دے. بیا دا چې صف آرائي په مرغه کښې خو کیدے شي خو د ونو په جنګی کښې ګرانه ده.

۴(الف). یعنې نذر محمد خان.

۵. ن ب "والد".

ص ۱۸۲

یعنې د عزت خاوندان، عزتمند او معتبر خانان یا امیران.

۲. یعني حیات د علي خان ترین زوی، نذر محمد خان د جمادي الاول ۱۰۵۲ هـ په وروستو دوؤ دریو ورځو یا د جمادي الثاني ورومبو څو ورځو کښې تښتیدلی وۀ او حیات له دا وخت د شمشیر خان خطاب نۀ وۀ ورکړی شوی. بلکه څو میاشتې پس (په ۲/ ذوالقعده) ئې دا خطاب بیا موند. نو ښکاره شوه چې خوشحال بابا ډائري (روزنامچه) د واقعاتو په شپو ورځو کښې نه بلکه وروستو لیکلې وه. چې هغه وخت حیات شمشیر خان شوی وۀ.
۳. له بلخه جنوب مغرب ته.
۴. په فوځ کښې د تعداد د کمي په حقله ټولو نسخو کښې چې دا ځائې لري (ن ا.ن ب. ن ج او ن د) عبارت هم دغه شان مبهم او متضاد دی. د بادشاهنامې د عمل صالح له رویه دواړو امیرانو (بهادر خان او اصالت خان) سره له لسو زرو سورو تقریباً څلور زره پاتې وو. (بادشاهنامه جلد۲ ص ۵۵۱ عمل صالح جلد۲ ص ۴۸۶).

ص۱۸۳

د آمو سیند د شبرغان شمال او شمال مغرب ته دی.
۲. د شبرغان شمال مغرب ته.

ص۱۸۴

. د خوشحال بابا عبارت دلته ختم شو.
۲. په یادګار سلف کښې د دریا خان دري وروڼه یعني د بهادر خان دري ترونه یاد شوي دي. عثمان خان، زکریا خان او نیکنام خان (ص ۱۵۱) تاریخ خان جهاني جلد ۲ ص ۸۷۳ کښې د علي سید څلور زامن سلیمان، ابراهیم، قاسم او عیسیٰ یاد شوي دي. د سلیمان یو زوی عثمان او د ابراهیم څلور زامن، دوه دریا خان او دولت خان له یوې موره وو چې نیکو زی وه. او نیکنام خان او سلطان له بلې موره وو. چې یوسفزی وه. او د قاسم یو زوی زکریا وۀ چې د هغۀ دیارلس زامن وو چې د اورنګ زیب په عهد کښې په ښو ښو منصبونو فائز شول. نیکو زی د داؤدزو څانګه ده. دغسې نو زکریا خان او عثمان د دریا خان تربوران شول. ممکنه ده چې آدم ئې هم تربور وي. او له دې کبله د افضل خان راوي ورته د بهادر خان ترۀ وئیلي وي. په بادشاهنامه کښې عثمان او نیکنام دواړه د بهادر خان ترونه یاد شوي دي. (جلد ا حصه ا ص ۲۹۴ جلد ا حصه۲ ص ۱۱۳ جلد ا حصه۲ ص ۳۰۸ جلد۲ ص ۳۳۷ و ۷۴۳. تر څو چې د عثمان تعلق دی نو دا غیر اغلبه نۀ ده چې سرکاري مؤرخ ته په تربورولي او ورورولئ کښې څۀ اشتباه شوی وي. مثلاً د پښتو د عظیم شاعر مرزا روښاني ذکر په فهرست منصبداران کښې داسې لیکي: "میرزا برادر رشید خان انصاري هفت صدي سه صد و پنجاه سوار، سال

چهارم در گزشت." (بادشاهنامه جلد ۱ حصه ۲ ص ۷ ۱ ۳ عمل صالح جلد ۳ ص ۶۷۶ عمل صالح د وفات د کال ذکر نهٔ کوي) د شاهجهان د عهد څلورم کال ۱۰۴۰ هجري دے.
میرزا د رشید خان (الله داد) انصاري وروز نه بلکې ترېور وهٔ. وګورئ ص ۱۷۳ نوټ ۷ حاشیه. خو د عثمان او نیکنام په باب یادګار سلف هم د بادشاهنامې تائید کوي. باید چې دلته د هسټري آو دي افغانز ان انډیا د مؤلف ډاکټر عبدالرحیم د یو څو غلطو نشاندهي وشي. تاسو ولیدل چې نیکنام خان د دریا خان وروز او د بهادر خان ترهٔ وهٔ. او یوسف خان د دریا خان له زامنو او د بهادر خان له وروڼو څخه وهٔ خو د څهٔ بې‌احتیاطی یا شخړې له قبله ستائیلي ډاکټر صاحب د عمل صالح جلد ۳ ص ۶۷۴ په حواله نیکنام د بهادر خان زوے یاد کړے دے. حال دا چې د عمل صالح د یاد شوي جلد په یادې شوې صفحه او هم د بادشاهنامې جلد ۲ په ص ۷۴۳ د نیکنام په حقله په فهرست منصبداران کښې په ترتیب دا اندراج دے. "نیکنام عموئ بهادرخان روهیله هفت صدی سه صد سوار" او "نیکنام عم بهادرخان روهیله هفت صدی سه صد سوار" د عمو او عم هم یوه معنیٰ ده. ترهٔ یا ماما. دلته ترې ترهٔ مراد دے. لکه چې تاسو به په مخ وخیرئ د بهادر خان په زامنو کښې د هیڅا نامه یوسف نهٔ وه. بناغلي ډاکټر صاحب د یوسف په حقله د خپل بیان دپاره د سند حواله نهٔ ده ورکړې. بادشاهنامه او عمل صالح دواړو کښې یوسف د بهادر خان هم وروز یاد شوے دے مثلاً وګورئ د پانصدي منصبدارانو فهرست "یوسف برادر بهادرخان روهیله پانصدی دوصد و پنجاه سوار."

۳. ن ب "اکا" (یا اکا).

۴. بهادر خان. هر کله چې بهادر خان ډېر لوے منصبدار او امیر او دا وخت به کار سرکار مامور وهٔ نو ترهٔ ورسره په خبرو کښې د درباري آدابو رعایت کولو.

۵. یعنې ورته ئې د خپلې ناراضګۍ په باره کښې وکښل چې دا بیت هم پکښې وهٔ.

صـ ۱۸۵

۱. دا خو یقیني نهٔ ده چې بهادرخان دغه وخت له قصده څان د سعید خان له کومکه ژغورلے وهٔ البته دا قیاس ته نزدې ده چې د دغو دواړو امیرانو سره تعلقات ښهٔ نهٔ وو او وجه ئې دا هم کیدے شي چې د پېښور په لوے جنګ کښې چې حال ئې په تیرو پاڼو (متن او نوټونو) کښې تاسو ولوست، د پښتنو قیادت د بهادر خان ماما شیخ کمال الدین او د مغلو کمان سعید خان کولو. او هم د دې جنګ په نتیجه کښې شیخ خان یا شهید یا مفقود الخبر شوے وهٔ.

صـ ۱۸۶

. د بلخ او بدخشان د مهم حال او پکښې د خوشحال بابا د کارکردګی دپاره وګورئ د

راقم کتاب "خوشحال خان خټک" اردو ص ۴۵ تر ۵۷.
۲. پـه دولسـم محرم ۱۰۵۹ هجري (اواخر د جنوري ۱۶۴۹ ء) شاهجهان ته په لاهور کښې خبـر ورسـيـد چې د ايـران شـاه عبـاس ثـانـي پـه ۱۰ ذوالحجه ۱۰۵۸ هجري (اواخر دسمبر ۱۶۴۸ ء) په قندهار حمله وکړه.

ص ۱۸۷

. عـمـدة الملک نواب بهادر خان چغتائي (سرابدال) روهيله لګه چې اګاهو هم عرض وکړل شول. پـه هـنـدوسـتـان کـښې د مغلو د دور خصوصاً د شاه جهان د عهد له ډيرو لويو او نوميالو امـراؤ او عظيمو عـسکري شخصيتونو ځني يو دے. دهٔ د شاهجهان د عهد په اکثرو لويو مهماتو او معرکو کښې د ذاتي شجاعت او عسکري قيادت د لوے صلاحيت جوتې نمونې پيش کړي دي. د نـواب صاحب د کارنامو حال مونږ بناغلو لوستونکو ته مختصراً لکه چې لاندې ليکلے دے پيش کوؤ
(۱) د بـونـديـلـه ؤ خـلاف وړومبے مهـم: پـه اول کـال د جلوس شـاهجهـان (۳۸- ۱۰۳۷ هـجـري) کښې بـونـديـلـه ؤ د اورچهه (يا اوندچهه) د راجا جهجهار سنګهه د مشرى لاندې په ۱۰۳۸ هجري کښې بغاوت وکړ. په دغه مهم کښې خصوصاً د ايرج د کـوټ پـه اخسـتـلو کښې بهادر خان حيرانونکې ميړانه او شجاعت ښکاره کړو. سيد عبـدالله خـان له خاتيزه، بهادر خان له قطبه او رشيد خان انصاري او پهاړ سنګهه بونديله (دهٔ او ډلې ئې بـاغـيـانـو بـونـديله ؤ سره ملګرتيا نهٔ وه کړے بلکې لکه چې له مضمونه ښـکـاري د بـادشـاهـي فـوځ سـره وو) له سهيله په کوټ يلغار وکړ د کوټ عالمو هم سخت جنګ برپائې کړو چې تر دريو ګينټو د زور او شور جنګ وشو نو ناساپه بهادر خـان خپل هاتي وړاندې کړو د کوټ دروازه ئې ماته کړه او بيا له هاتي کوز شو او سره د خپـلـو عزيزانو او نورو پښتنو لکه د تندر په کوټ ورننوت. او دوه زره باغيان ئې مړهٔ کـړل. او جهجهار سنګهه امان وغوښت. علم خو ورته له وړومبيه ور کړے شوے وهٔ. د دې خدمت په عوض کښې ورله نغاره هم ورکړل شوه.
(۲) د خـان جهـان لـودي خـلاف مهـم: پـه متن او نـوټـونـو کښې ئې حال تاسو پخوا ولـوسـت. دومره اضافه به بې ځايه نهٔ وي چې د دې مهم په دوران کښې په دکن کښې چې کـوم جـنـګ د راجـوري د غـرهٔ پـه خوا کښې شوے وهٔ (هم هغه جنګ چې د خان جهـان د عـزيـز بهـادر خـان ذکر هم پکښې راځي. ص ۱۷۱ اخري اتهٔ کرښې) په هغه کښـې د مـنـتـخـب اللباب مؤلف خافي خان او د مآثر الامراء مؤلف نواب شاهنواز خان

عبدالرازق خوافي د بهادر خان کارنامې ته په ترتيب ''محضر ابطال داستان رستم دستان'' او ''روکش داستان رستم واسفندیار'' وائي.

(۳) د بيجاپور مهم ۱۰۴۰ هجري: حال ئې اګاهو تاسو ولوست. (متن او نوټونه)

(۴) د ملکوسه د پرګنې د باغيانو سر کوبي ۱۰۴۲ هجري: نوټونو کښې ئې ذکر راغلے دے.

(۵) په ۱۰۴۵ هجري کښې راجه جهجهار سنګهه بونديله بيا بغاوت وکړو په دغه مهم کښې هم بهادر خان ډير تردد او خدمت وکړو. او تره ئې نيکنام سره د خپلو ډيرو ملګرو په يوۀ جنګ کښې ژوبل شو جهجهار سنګهه خائے په خائے د شکستونو او وهل خوړلو نه پس وتښتيد او اخر سر وهلے بر وهلے چې د ګونډوانو زمکې ته ورسيد نو سره د خپل زوي بکرماجيت د هغوي له لاسه ومړ. بناغلي لوستونکي به ياد آوري وکړي چې دا بکرماجيت هم هغه سړے دے چې د بهادر خان د پلار دريا خان د خاتمې باعث شوے وۀ.

(۶) هم دغه کال يعنې ۱۰۴۵ هجري کښې ئې د ساهو مرهټه خلاف مهم کښې نمايان خدمات وکړل.

(۷) د جلوس په ديارلسم کال کښې چې بونديله ؤ بيا د چنبت رائے او سبحان په لمسون بغاوت وکړو نو بادشاه ئې سرزنش لره سيد عبدالله خان فيروز جنګ وټاکلو خو له هغۀ لکه چې بايد کار ونۀ شو نو دا خدمت بهادر خان ته وسپارلے شو. اوس نو د فارسيوانو، مغلو او ايرانيو امراؤ د رخې (حسد) اور لمبه وکړه. بادشاه ته ئې غوريژ (احتجاج) وکړو او ورته ئې ووئيل چې ''بونديلکنڈ را روہيلکنڈ کردن صلاح ملکی نیست''۔ يعنې د بونديلکنډ نه روهيلکنډ د حکومتي مفادو خلاف دي. مطلب دا چې د خپل نيازبين له قبيلے خو دې په هندوستان کښې د پښتنو يو مرکز قائم کړو بل ورله مۀ قائموه. بادشاه مصلحت د نظر د وړاندې بهادر خان له دې خدمته سبکدوش کړو. خو د واپسی نه اګاهو بهادر خان بونديله ؤ لره مناسبه سزا ورکړې وه. د دوي يوه لويه ګڼه قتل شوې وه. او مشران ئې چنپت رائے او سبحان په تيښته مجبور شوي وو.

(۸) د کانګړې يا د راجه جګت سنګهه برخلاف مهم: مفصل حال ئې تاسو په متن او نوټونو کښې ولوست خو په مؤ کښې د بهادر خان او د هغۀ د سړو د شجاعت او سرفروشانه کارنامو حال د سرکاري مؤرخ ملا عبدالحميد په الفاظو کښې ولولئ:

''مبارزان فوج بہادر خان از فرط شجاعت بہ نردبان پایۂ پشتہ ہائے کشتگان بر ملچار مقاہیری دو یدند و در ین پنج روز قریب ہفت

صد کس از تابینان بہادر خان وہمین قدر از دیگر بندہ ہائے بادشاہی مقتول و مجروح گشتند وجمع کثیر از کفار بہ دوزخ شتافتند ۔ اگر چہ اکثر بندہ ہائے بادشاہی در انصرام این کوشیدند اما عمدہ در پیش بردِ این کار دشوار تر ددات سید خان جہان ورستم خان و بہادر خان بود خصوصاً بہادر خان ہراول سید خان جہان ۔'' یعنې د بهادر خان جنګيالي به له ډيرې مړانې د مړيو له دلو پای طاقونه جوړونکي د قهر وهليو په مورچل په دؤ ورتلل په دغو پېنځو ورځو کښې نږدې اووۀ سوه کسان صرف د بهادر خان له ماتحتانو او هم دومره له نورو (ټولو) بادشاهي ملازمانو مړۀ او ژوبل شول. او د کافرانو يوه لويه ګڼه دوزخ ته وزغليده. اګر کۀ اکثرو بادشاهي ملازمانو د دغه کار تر سره رسولو کښې مېنود کولو خو د دغه ګران کار په پوره کولو کښې له ټولو ښۀ کوششونه د سيد خان جهان، رستم خان او بهادر خان خاص طور سره د بهادر خان وو چې د سيد خان هراول وۀ.

(۹) پـه ۱۰۵۴ هـجـري کښې د کانټ د پرګنې د بڃهيل او ګوړ راجپوتانو ئې پس له يوۀ ډيره خونړې جنګه سر کوبي وکړه. يوولس سوه روهيلې په دغه جنګ کښې شهيدان شول. بادشاه د دغه خدمت په بدل کښې خوارلس کلي جاګير پښت په پښت سره د هميشګي معافي ورکړل او د هغۀ کشر وررور جلال لره ئې د نه صد ذات پانصد سوار منصب ورکړ.

(۱۰) د ترکستان يعنې د بدخشان او بلخ مهم (۵۷ ـ ۱۰۵۵ هجري) چې مفصل حال ئې په متن او نوټونو کښې تير شو.

(۱۱) د کال ۱۰۵۸ هجري په اواخر کښې د سيکانو شپږم ګورو جناب هر ګوبند جي شورش برپای کړو. د لاهور نائب ناظم مخلص خان ئې مقابله وکړه خو د ندالي په مقام ئې له سيکانو شکست وخوړ او سره د يوۀ بل سردار غلام رسول خان شهيد شو. نو بادشاه بهادر خان سره د پېنځلس زره فوځه د سيکانو مقابلې لره وليږۀ ګورو جي په امرتسر کښې د لوه ګړهـ په خوا کښې د بهادر خان سره وجنګيدل خو فاش شکست ئې وخوړ او په کوټ ورننوتل. بادشاهي فوځ کوټ راګير کړو ګورو جي ئې له غلبې تنګ او پريشانه او دکوټ په پرېښودو مجبور شول نو ترې ووتل او خان ئې د ګوبند وال پرګنې کښې جهبال کلي ته ورساوۀ.

(۱۲) د قندهار مهم ۱۰۵۹ هجري: حال ئې تاسو ولوست. دا د بهادر خان اخري خدمت وۀ چې په دوران کښې ئې حق ورسيد. خدائے تعالیٰ ئې وبخښه.

بهادر خان چې کوم او څنګه د شاهجهان خدمتونه کړي وو په حقله ئې نواب شاهنواز خان عبدالرزاق خوافي ليکي: ''چندان در کار بادشاہی جانفشانی ہا ونکو اہی ہا تقدیم رسانید کہ غبارے کہ از

کجروی ہائے پدر بہ خاطر اعلیٰ حضرت نشستہ بود بالکلیہ رفع شد۔'' یعنې د بادشاه په خدمت کښې ئې دومره خان بښندنې وکړې او د هغهٔ د سلطنت د استقلال او ترقۍ دپاره ئې دومره کوششونه وکړل چې (د بهادر خان) د پلار د کجروۍ له قبله د اعلیٰ حضرت (شاهجهان) په زړهٔ کوم ګرد پریوتې وهٔ بالکل لرې شو. (مآثر الامراء جلد ا ص ۴۲۴ قوسین له ما دي.

(لکه چې له تاریخ مرصع او یادګار سلف او نورو آثارو هم ښکاره ده دریا خان چا چې د خان جهان لودي په ملګرتیا کښې د شاهجهان برخلاف بغاوت کړے وهٔ یو لوے عهده دار او امیر وهٔ. د چار هزاري ذات چار هزار سوار منصبدار. او لکه چې د ذکر شوؤ آثارو نه معلومیږي د عهد شاهجهاني ډیر لوے او مشهور او معروف امیر بهادر خان روهیله هم د دغه دریا خان روهیله داؤدزي زوے وهٔ. په پورته نقل شوي عبارت کښې هم د دریا خان بغاوت طرف ته اشاره ده چې د بهادر خان خدماتو ئې د بادشاه له زړهٔ بالکل محو کړ نو د شاهجهان د عهد د دور اول منصبدار دریا داؤدزي چې پانصدي صد و بست سوار منصب ئې وهٔ. (بادشاهنامه جلد ا حصه ۲ ص ۳۲۲) او دور دویم منصبدار دریا افغان چې پانصدي دو صد سوار منصب ئې وهٔ. (جلد ۲ ص ۷۴۹) بهادر خان سره سوا د هم قبیله کیدو نور تعلق د قریبي خپلوی نهٔ لرلو.)

د بهادر خان د زیږون کال په یادګار سلف کښې ۱۰۱۵ هجري بیان شوے دے. د وفات کال ئې ۱۰۵۹ هجري دے. نو دغسې د وفات په وخت ئې عمر څلور څلویښت کاله وهٔ. افسوس چې لا ځوان وهٔ چې ومړ کهٔ عمر ورسره وفا کړے وے نو ګوندې چې کومو مرتبو ته به رسیدلے وے. دغه وخت د درجه اول پنج هزاري وهٔ. پنج هزاري ذات پنج هزار سوار دو اسپه سه اسپه. د جهانګیر په عهد کښې د اولې درجې پنج هزاري منصب پنج هزاري پنج هزار سوار وهٔ. بلکې هم دا د ټولو نه لوے منصب وهٔ. او سالانه تنخواه ئې دوه نیم لکه روپۍ وه. شاهجهان منصبونه تر هفت هزاري کړل. (د هغهٔ د سخر آصف خان نه هزاري منصب خاص هغهٔ لره وهٔ) او پکښې ئې د دوه اسپ سه اسپه درجه هم قائمه کړه. نو د هغهٔ په وخت کښې د درجه اول پنج هزاري سالانه تنخواه پینځهٔ ویشت لکه روپۍ وه. علاوه له دې د نواب صاحب ډیر جاګیرونه وو چې صرف سرکاري مطالبات پرې تر لکونو روپو رسیدل. له دې معلومیږي چې شاهجهان هم په نواب بهادر خان ډیر مهربان وهٔ. او د هغهٔ د خدماتو ئې ښهٔ قدر او د نواب صاحب ئې مناسبه عزت افزائي کوله. او ډیر ترې خوشحال وهٔ. او ما سوا له یوې خبرې، د سعید خان په واقعې له بهادر خانه ورته هیڅ شکایت نهٔ وهٔ پیدا شوے. خو بیا هم د هغهٔ منصب او خطابات ئې په حال وساتل. او صرف د کالپی او قنوج جاګیر ئې په داسې شان تغیر کړ چې هم په خاندان کښې پاتې شو. خو دغه شکایت ئې هم زر لرې شهٔ. او یاد شوے جاګیر ئې بیا نواب صاحب ته وبخښلو. او بیا د قندهار په اهم مهم د نواب بهادر خان

اورنگزیب سره مقرریدل هم بنیي چې د بادشاه پرې پوره اعتماد وۀ. او دغه شان اهمو مهمونو کښې ئې لکه همیش د هغۀ موجودګي سره د ذمه دارانه حیثیت ضروري ګڼله. زمونږ مؤرخ افضل خان چې د نواب بهادر خان په زړۀ کښې د قندهار په مهم د تللو په موقع د کومو مخالفو خیالاتو او ارادو ذکر چې له هغۀ ئې د حضرت شیخ رحمکار صاحب رحمة الله علیه په مخکښې اظهار شوے وۀ کړے دے کۀ چرې مبني په حقیقت وي نو ګوندې د بهادر خان په زړۀ کښې د بادشاه نه په خان د لګیدلي الزام د باور کولو او ورله د جاګیر د ضبطی (کۀ هر څو د لیږې مودې دپاره وه) په شکل د تنبیه ورکولو په وجه خفګان پیدا شوے وۀ. خو بیا هم خوا دغه قسم خیالات او ارادې او بل خوا د مهم په دوران کښې د داسې فداکارۍ او تردد اظهار چې افضل خان ئې ذکر کوي کۀ د دواړو خبرو سره یو ځائے موجودګي ناممکنه نۀ ده نو غیر اغلبه خو ضرور ده. خو د افضل خان له طرفه دا ونیل کیدے شي چې د نواب بهادر خان په زړۀ کښې د خروج خیال او بیا ئې د حضرت شیخ رحمکار صاحب رحمة الله علیه د نصیحت په وجه لرې کیدل نۀ صرف دا چې غیر اغلب نۀ دي بلکې قیاس ته نزدې او اغلب دي. په هر حال د دې خبرې معتبر راوي خو خوشحال بابا کیدے شو او کۀ افضل خان دا وضاحت کړے وے چې هغۀ دا خبره له خان علیین مکان اوریدلي ده نو د انتقاد ګنجائش نۀ وۀ پاتې. والله اعلم بالصواب.

نواب بهادر خان صرف یو جرار سپاهي او قابل جرنیل نۀ وۀ بلکې د لویو انتظامي صلاحیتونو مالک او موزون طبیعت څښتن هم وۀ. او بنۀ علمي استعداد ئې لرلو. او د امن زمانې سره سم د ودانۍ او آبادۍ ډیر کارونه ئې هم کړي دي. د خپل ملازمت په دورا· کښې د اسلام آباد (بوندیلکنډ) ملتان او بلخ غوندې پر آشوبه علاقو صوبه دار پاتې شوے وۀ. ګډهـ تانتوا نومے کلے نواب صاحب له نوي سره آباد او یو پوخ کوټ ئې پکښې جوړ کړو. او هم له دې قبله ئې نوم بهادر ګړهـ (ضلع میرټهـ) شو. د روهیلکنډ د مشهور او معروف ښار شاهجهان پور (چې د شاه جهان پور د ضلعې صدر مقام هم دے) باني هم نواب بهادر خان وۀ. په څنو تواریخو کښې د شاه جهان پور باني د نواب صاحب کشر ورور دلیر خان (جلال) او امپیریل ګزنټیر کښې دلیر خان او بهادر خان یاد شوي دي. بلکې ډاکټر عبدالرحیم خو لیکي چې دلیر خان لره چې د باغي دریا خان زوے او د بهادر خان ورور وۀ شاهجهان د قنوج په سرکار کښې څو کلي ورکړل. هغۀ هورې پښتانۀ آباد کړل او هورې ئې یو ښار جوړ کړ. او شاهجهان پور ئې ونوملو. (هسټري آو دي افغانز ان انډیا ص ۳۰۷) د دغه لیک دپاره ستائیلے ډاکټر صاحب د خافي خان جلد ۱ ص ۲۶۲، ۲۶۳ مآثر الامراء جلد ۱ ص ۴۳ او اخبار

محبت او ډستر کټ ګزټيير شاه جهان پور حواله ورکوي. تر څو چې د خافي خان د منتخب اللباب او نواب شاهنواز خان عبدالرازق خوافي د مآثر الامراء تعلق دی د نواب دلير خان د شاه جهان پور د ښار اباد ولو ذکر پکښې نشته. بلکې خبره صرف دومره قدر ده چې د بلخ د مهم په اواخر کښې بادشاه له بهادر خانه سعيد خان ته لکه چې ووئيل شول په وخت د کمک نهٔ رسولو او د ازبکو تعاقب نهٔ کولو په وجه آزرده شو او د کال ۱۰۵۷ هجري په اواخر کښې ئې د څهٔ لږې مودې دپاره د کالپی او قنوج سرکار په طور د جاګير د نواب بهادر خان وررور جلال خان ته وبخښلو او دلير خان خطاب ئې هم په دغه موقع ورکړو. او په منصب کښې ئې د اضافې سره د هزاري ذات هزار سوار منصبدار شو خو بهادر خان د بادشاه په رضا کولو او د هغهٔ د غلط فهمی په لرې کولو کښې زر کامياب شو او ډېره موده نهٔ وه تېره چې د کالپی او قنوج سرکار بيا د بهادر خان په نامه بحال شو. چې تر څو د اخبار محبت او ډستر کټ ګزټيير شاه جهان پور تعلق دی نو ما ئې د ليدو موقع بيا نهٔ مونده خو په هر حال له دواړو يو الر هم د سند درجه نهٔ لري.

د شاهجهان پور د ښار د بنا کيدو او اباديدو واقعات داسې دي چې بلخ او بدخشان ته د روانيدو نه اګاهو بهادر خان د دغه ښار د بنا کولو نيت او حکم کړے او د نګرانی کار ئې جلال (يسته نواب دلير خان) ته سپارلے وهٔ. د ښار د جوړيدو په دوران کښې نواب صاحب پخپله له هندوستان بهر وهٔ نو د هغهٔ حکم سره سم دغه کار د جلال د نګرانی لاندې کيدو. جلال دغه وخت نهٔ دلير خان وهٔ او نهٔ لا هزاري قدر منصبدار هم. او نواب بهادر خان پنج هزاري وهٔ او د سر امراؤ کښې ئې شمير کيدو. په کال ۱۰۵۷ـ۵۸ هجري کښې د نواب صاحب له ترکستانه د واپسی نه اګاهو ښار تيار شوے وهٔ. او نواب صاحب ته ئې اطلاع شوې وه. نو په لاره کښې ئې د کابل او پيښور د علاقو د مختلفو قبيلو نههٔ زره پښتانهٔ په ښار کښې د اباد ولو دپاره د ځان سره کړل. خو هر کله چې په لاره کښې ورته د بادشاه د خفګان اطلاع وشوه نو د بادشاه د شبهاتو د لرې کولو او د هغهٔ د رضا کولو دپاره ايسار شو. او دغه پښتانهٔ ئې د خپل ترهٔ نيکنام سره شاه جهان پور لورې ته روان کړل. او لکه چې ووئيل شول په خپل مقصد کښې کامياب شو. چې نواب صاحب بيرته هندوستان ته ورسيد نو څهٔ موده خو ئې بهادر ګړهـ کښې تيره کړه بيا ئې څو ورځې شپې شاه جهان پور کښې قيام وکړو بهادر ګړهـ ئې خپل وررور عنايت خان ته وبخښلو او پخپله خپل جاګير کالپی او قنوج ته لاړو.

د شاه جهان پور يو محلت د نواب صاحب په ياد کښې تراوسه د بهادر ګنج په نامه مشهور دے. د شاه جهان پور هغه جماعت چې پکښې پوخ کوهے دے او د کانچ کي مسجد

پـه نـامـه مشهـور دی او د شـاه جهان پور د عماراتو مهتمم خواجه بلند جوړ کړي وو. په هغه کښې دا قطعه کنستې شوې وه :

شد مرتب شاه جهان وطن دل کشا بهادر خان
مسجد و چاه ساخت خواجه بلند سال تاریخ ''نغز'' شد بہ جہان

زمونږ مؤرخ افضل خان هم د دې دپاره هم شاه جهان پور ته د بهادر خان او شاه آباد ته د دلیر خان وطن وائي. (ص ۱۹۳) چې وروميے ښار بهادر خان او دويم دلير خان آباد کړي وو.

جلال (پسته نواب دلير خان) هم په دغه معنیٰ کښې د شاه جهان پور باني گڼل کيدے شي چې د ابادی کار ئې د دهٔ په نگرانی د نواب بهادر خان د حکم په تعمیل کښې شوے وو.

عـلاوه د بهـادر گـړهـ او شاه جهان پور له ابادولو د هندوستان او پاکستان په مختلفو ځـايـونـو لـکـه اله آباد او لاهور کښې نواب صاحب ډيرې حويلی جوړې کړې وے. په دهلي کښې ئې يو محلت سره د يوهٔ جمات او حويلی اباد کړے وو. چې اول د دهٔ په نامه بهادر پوره بـلـل کيـدے شـو، او بيا ئې د تپولو نه د کشر زوي نواب عزيز خان بهادر په نامه په کټره عزيز خـان مشهـور شـو. پـه سرکار کالپی او قنوج کښې ئې هم عالي شان مکانونه او سرايونه جوړ کـړي او بـاغونه لګولي وو. په قنوج کښې د حضرت شيخ کبير بالا پير صاحب قدس الله سره پـخه مقبره هم نواب صاحب جوړه کړې وه. چې دننه په دغه کتبه لګيدلې ده. ''اين گنبد عالي در زمـان دولـت مـعـلـیٰ الـقـاب بهـادر خـان ابـن دريا خان افغان غوريا خيل داؤدزي عمارت پـزيـرفـت.'' پـه تاريخ خان جهاني مخزن افغاني کښې شيخ کبير بالا پير د شيخ قاسم بن شيخ قـدم السليماني چې په اصل خليل غوريا خيل وهٔ زوے ياد شوے دے. د ولادت تاريخ، کال او ځائے ئې په ترتيب مقام بدني او ۴ شوال ۹۹۴ هجري او د وفات تاريخ او کال ئې ۱۲ رمضان ۱۰۵۴ هـجـري ليـکلي شوي دي. (جلد۲ ص ۸۵۱، ۸۵۲. ظاهره ده چې دا ځائے هم کومې نسـخې يـا کـومـو نسـخـو کـښې لـکه د څنو نورو ځايونو د کتاب په ۱۰۲۱ هجري کښې د تکميل نه پس زيات شوے دے). بودني گوندې مقام بدني هم دغه ځائے وي چې د پيښور نه د يو څو ميلو په فاصله ترې شمال مشرق ته پرته ده. اگر کهٔ محل وقوع خو ئې د خليلو د ټپې نه بهر دے خو پښتانهٔ ئې هم خليل او اصلاً د خليلو د ټپې نه ورغلي دي.

پـه مـکـن پـور ضـلـع کانپور کښې د حضرت شاه بديع الدين صاحب معروف په شاه مـدار صـاحـب نـور الله مـرقـده د درگاه د احاطې دننه ئې يو پوخ دالان د زائرينو د قيام او ارام دپاره جوړ کړے وهٔ چې پرې په يوهٔ ځائے کښې دغه کتبه کنستلې شوې وه.

بر آستانهٔ مهر سپهر ميں يقين مدار عالم و قطب و محل بديع الدين

بعهد شاه جهان بادشاه دین پرور — که شد ز لطف عمیمش جهان پر از آئین
به اعتقاد دل و نیت بهادر خان — کشید سر به فلک این عمارت سنگین

او دا د نواب صاحب يو حماسي غزل دے چې د بناغلو لوستونكو د طبعې د تفنن دپاره ئې ورته وړاندې كوؤ:

ترک سر کردن به میدان شیوهٔ رندان بود — مشکل است این کار لیکن پیش مرد آسان بود
مرد میدان شجاعت را نه باشد بیم سر — هر که از سر نگذرد کے مرد این میدان بود
روئے خود از قبله گرداند به وقت هر نماز — هر که از کفار روز حرب رو گردان بود
قوت بازو شود از زخم تیر اندر مصاف — پر بر آید بر تنم از تیر کان پران بود
اے بهادر در جهان هر باغ دارد میوه اے — میوهٔ باغ بهادر خنجر پیکان بود

د تاريخ افاغنه د كومې نسخې نه چې د تلخيص په شكل تاريخ حافظ رحمت خاني تيار شوے وۀ. دغه نسخه حافظ رحمت خان رحمة الله عليه لره د نواب بهادر خان "خط انداز و رونق افزائے بلدۀ شاهجهان پور" د كتب خانې نه راليږلې شوې وه. له دې اندازه كيږي چې نواب صاحب د كتابونو د جمع كولو شوق هم لرلو. د نواب صاحب او حافظ صاحب په زمانو كښې تقريباً د سلو كالو فرق دے او هسې ليدے شي چې د نواب صاحب د وفات نه ډيره موده پسه پورې د هغۀ كتب خانه په شاه جهان پور كښې په ښۀ حالت كښې وه.

د نواب صاحب زمانه د پښتنو د ملي تحريكاتو زمانه وه. او له دې نقطۀ نظره د نواب صاحب كردار څۀ اهميت نۀ لري. د پښتونخوا په تاريخ كښې د هغۀ نه د هغۀ د پلار دريا خان او بيا خصوصاً د ماما ئې شيخ كمال الدين مقام ډير وچت دے. خو سره د دې د نواب صاحب د كردار د ژورې مطالعې نه ښكاري چې په مغلي دربار كښې خپل نفوذ او اقتدار هغۀ صرف د خپلې ذاتي او خانداني فائدې دپاره نۀ دے استعمال كړے بلكې د دېو په ذريعه ئې په هندوستان كښې د پښتنو د ابادۍ او د هغوي د اثر او نفوذ زياتولو دپاره هم ډير كار كړے دے. هغۀ غالباً د پښتنو دپاره د مغلو برخلاف مسلح اقدام سودمن نۀ گڼلو او مغلو سره ئې د تعاون په ذريعه د پښتنو ښيگړه لټوله. تاسو د خوشحال بابا د بياض هغه ځائے چې د تارا گړهـ محاصرې او جنگ سره تعلق لري بيا ولولئ او په دغه فقره ښۀ غور وكړئ. "خوشحال خانه كۀ دې ما د عالمو كومک وكړے". دا ديو لوے امير او سر عسكر يو داسې نو وارد پښتون ته خطاب دے چې وړومبے بادشاهي خدمت ئې دے. او په پانصدي منصبدارانو كښې ئې هم نوم نشته. د حكم انداز څومره محبت آميز او شريفانه دے. او په داسې وخت ئې په ټول فوځ كښې د دغه اهم كار دپاره نظر په چا پريوځي. په يوۀ داسې پښتون ځلمي چې وړاندې

مستقبل لري. دا بيله خبره ده چي قدرت ته د هغهٔ د مستقبل عظمت بل شان او دومره زيات منظور وهٔ چي د بهادر خان او پخپله د هغهٔ په وهم او گمان کښې هم نهٔ وهٔ. د خپل اخري مهم په موقع په لاره کښې خوشحال بابا لره سرائ ته راتلل د هغهٔ ورله دعوت ورکول او د هغهٔ د خاندان لويو ورو سره د محبت شفقت د اظهار ذکر چي څنگه افضل خان کړے دے ښهٔ ترې ريښې چې نواب صاحب د پښتنو ملازمانو او زميندارانو د بهترى او ترقى څومره خيال ساتلو.

سره د دنياوي جاه و جلال نواب بهادر خان ډير ديندار او د شريعت د ارکانو ډير پابند او د صلحاؤ او فقراؤ ډير قدردان وهٔ. وائي چې د حضرت شيخ آدم بنوري رحمة الله عليه نه بيعت وهٔ. د بلخ د مهم په دوران کښې چې خوشحال بابا د دهٔ او اصالت خان له فوځه د ورکيدو او وربسې د لښتون واقعه بيانوي له هغې هم معلوميږي چې د جنگ په دوران او د خطرې په ځائے او وخت کښې به ئې هم د مانځهٔ اوداسهٔ خيال ساتلو. دواړه نوابان صاحبان چې صحيح کړل شول نو په مانځهٔ اوداسهٔ مشغول وو.

اگر کهٔ افضل خان ليکي چې نواب بهادر خان له د خپل د څوکي د جمعدار شيخ فيض په ذريعه زهر ورکړل شوي وو او علاوه له دې څوک د دې زهر خورانى الزام په اورنگزيب او څوک په دارا شکوه لگوي. خو دغه خبرې هيڅ معتبرې نهٔ دي. لکه چې په معتبرو فارسي تاريخونو کښې.ليکلي دي نواب صاحب د ساه لنډي له مرضه وفات شوے وهٔ. د زهر خورانى د روايت او د دې بيان له مقابلې مونږ دا نتيجه اخذ کولے شو چې گوندې په نواب صاحب ناڅاپه د زړهٔ او ورسره د تنفس د خرابى حمله وشوه او وفات شو. ترې نه شهزاده او نورو امراؤ سره اختلاف او ناڅاپي مرگ بدگمانى پيدا کړے. نن سبا خو دغه شان ناڅاپه مړل معمولي خبره ده. خو جهانگير چې په حيرانتيا په کوم رنگ او انداز د ملا احمد مهر کن د دغه شان ناڅاپي مرگ ذکر کوي. (توزک جهانگيري اردو ترجمه ص ۱۹۲، ۱۹۳) ترې معلوميږي چې د نن نه درې درې نيم سوه کاله اگاهو يوه ډيره غير معمولي خبره وه. د نواب بهادر خان نعش روهيلو له قندهاره يوړ او په شاه جهانپور کښې ئې ښخ کړ. قبر ئې په بهادر گنج نومے محلت کښې دے او يوه عالي شانه مقبره پرې جوړه ده.

دلته به دا ذکر بې ځايه نهٔ وي چې د نواب بهادر خان له وفاته تقريباً دوه نيم کاله اگاهو اصالت خان د بلخ د مهم په دوران کښې په ۲۲ ربيع الاول ۱۰۵۷ هجري (اواخر اپريل ۱۶۴۷ ء) تقريباً د څلويښتو کالو په عمر په طبعي اجل وفات شوے وهٔ. د وفات په وخت ئې منصب پنځ هزاري ذات څلور هزار سوار وهٔ. اصالت خان هم د ډيرو ښو اوصافو او

اخلاقو ښښتن او ډير قابل افسر وۀ. دواړه علاوه له دې چې بهادر خان پښتون هم وۀ زمونږ په قامي تاريخ کښې دا اهميت هم لري چې دوي د خوشحال بابا دوستان وو او هغه ئې د ملي قائد کيدو نه وړومبے د مغلي ملازمت په دوران کښې ماتحت بادشاهي خدمت کړے وۀ. (په بادشاهنامه او عمل صالح او منتخب اللباب کښې د درج حالاتو نه علاوه د نواب بهادر خان روهيله د سوانح عمرئ دپاره وګورئ مآثرالامراء جلد ا ص ۴۱۵ تر ۴۲۰ او يادګار سلف ص ۱۸۵ تر ۲۷۹ او د اصالت خان د سوانح عمرئ دپاره مآثر الامراء جلد ا ص ۱۶۹ تر ۱۷۲).

۲. د عمل صالح، مآثرالامراء او منتخب اللباب د بيانونو له رويه د نواب بهادر خان اووۀ زامن وو وړومبي دوه کتابونه ئې د مشر زوي نامه دلاور او دريم ئې دليل خان بيانوي، وړومبی نامه صحيح ده. د نواب صاحب د خانداني تاريخ يادګار سلف له رويه د نواب صاحب لس زامن وو چې نامې ئې دا دي: (۱) دلاور خان (۲) غيرت خان (۳) دلير همت خان (۴) رنمست خان (۵) مظفر خان (۶) حسن خان (۷) اختيار خان (۸) فتح محمد خان (۹) بختيار خان او (۱۰) عزيز خان. په دي کښې دلاور خان له ټولو مشر او عزيز خان له ټولو کشر وۀ. بادشاه چې د نواب بهادر خان له وفاته خبر شو نو دلاور خان ته ئې چې هغه وخت صرف د پنځلسو کالو وۀ هزاري ذات پانصد سوار منصب او نورو زامنو لره ئې مناسب مناصب ورکړل او د هر يوۀ د عمر مطابق ئې ورله يوميه مقرره کړه. او ما سوا نواب صاحب له هاتيانو د هغۀ ټول اموال ئې دوي ته پريښودل. دلاور خان تقريباً د ۲۵ کالو په عمر ۱۰۶۸ هجري کښې د اورنګزيب د عهد حکومت په شروع کښې چې هغه وخت د کابل د صوبې له تعيناتو وۀ وفات شو او نورو زامنو ئې د اورنګزيب په عهد کښې ښۀ خدمتونه وکړل. (عمل صالح جلد۳ ص ۹۹، مآثر الامراء جلد ا ص ۴۲۳، يادګار سلف ص ۲۷۸ تر ۲۸۰).

۳. اورنګ زيب نواب عزيز خان ته د هغۀ د پلار خطابونه بهادر او چغتائي بخښلي وو. سرکاري مؤرخ (د مآثر عالمګيري مؤلف) معتمد خان د اورنګزيب د عهد د اخري کال په واقعاتو کښې ليکي چې عزيز خان بهادر روهيله نامې سره ئې د چغتائي په زياتيدو چې پلار ئې پرې سرفراز وۀ بختور شو. او بيا ليکي چې په اصل منصب دو هزار پانصدي کښې ئې د پانصد اضافه وشوه. يعنې سه هزاري شو. د يادګار سلف مؤلف ئې د اورنګزيب په عهد کښې د سه هزاري ذات سه هزار سوار د يادو شوؤ خطابونو د ښيلو نه پس ليکي چې نواب عزيز خان بهادر چغتائي د محمد شاه تر عهده ژوندے وۀ او د هفت هزاري ذات هفت هزار سوار منصب ته د رسيدو نه پس د نوي کالو په عمر کښې په ۱۱۳۳ هجري کښې وفات شو. زوے

ئې تهور خان لاولد وفات شو. د يادگار سلف مؤلف عبيدالله خان صاحب مرحوم د ديوان عنايت خان (د نواب بهادر خان سكه ورور) د زوي نامدار خان او د دهٔ د بي بي چې د نواب عزيز خان بهادر لور وه له اولاده ځني دے. (مآثر عالمگيري انگريزي ترجمه ص ۳۰۸ مآثر الامراء جلد ۱ ص ۴۲۴ او يادگار سلف ص ۲۷۸ تر ۲۸۰ او ۲/۱۱۶.

صـ ۱۸۸

. جدگلک په افغانستان کښې د کابل او جلال آباد ترمينځه تري په ترتيب خاتيز او لويديز ته.

۲. يعني چې له کابله کوچ وشو او لښکر جگدلک ته ورسيد د دغه وخت خواؤشا د سرائ اکوړه عالم چې په هغو شپو ورځو کښې (د خوشحال بابا د قيديدو نه پس) وړومبے د مردان د بائيزو تپه کښې سيکرى نومے ځائے ته او بيا له هغه ځايه سنگاوو ته لاړ او هورې ميشته رو راغلل. الخ.

سيکرى له مردانه قطب لوري ته تقريباً يوولس ميله لرې د غرهٔ په لمنه کښې د جمال گړى او کاټلنگ په مينځ کښې ده. او سنگاوو له سيکرى تقريباً دولس ميله قطب خاتيز ته دے. دغه ټول ځايونه د مردان د ضلعې مردان تحصيل کښې دي. بې له سرايه چې د پيښور د ضلعې نوښار تحصيل کښې له پيښوره او نوښاره خاتيز لوري په ترتيب ۳۵ ميله او ۷ ميله لرې دے.

۳. زوړ نوښار يعني خټ کلے تري مراد دے. چې د نوښار له چاونى خاتيز رويه لږ د لنډې سيند ښي غاړې ته دے او د نوښار قصبه تري قطب لوري ته د سيند په بله غاړه ده.

۴. گړهي کپوره تحصيل او ضلع مردان تپه امازى مندڼ. د مردان نه تقريباً شپږ ميله خاتيز لوري ته. څلور برخې ئې دي. کوټ دولت زئي، کوټ اسماعيل زئي، گړهي دولت زئي او گړهي اسماعيل زئي.

صـ ۱۸۹

. يوسف خان د شاهجهان په عهد کښې منصبدار وهٔ. د هغهٔ د مرگ په حقله د تاريخ مرصع بيان صحيح نهٔ ښکاري. د عالمگير نامې (ص ۱۰۴) منتخب اللباب (حصه ۲ ص ۲۸) او يادگار سلف (ص ۲۸۶ ۲۸۷) د متفقه بيانونو له رويه يوسف خان د تخت نشيني په دريمه جگړه کښې چې په سمو گړهـ (د اگرې نه تقريباً لس ميله جنوب مشرق) کښې شوې وه. د دارا شکوه ملگرے وهٔ. او هم دغه جگړه کښې قتل شوے وهٔ. وړومبى جگړه د بهادر پور (بنارس نه پينځهٔ ميله شمال مشرق) ته وه چې پکښې د دارا شکوه زوي سليمان شکوه د مرزا

راجه جے سنگھ کچھواهه (د امبیر یعني جے پور والي) او دلیر خان (جلال) په ملګرتیا شجاع مات کړ. دویمه جګړه د اجین نه تقریباً لس دولس میله جنوب مغرب ته د دهرمت وه چې اورنګزیب او مراد بخش بادشاهي فوځ چې سرداران ئې مهاراجه جسونت سنګهه راټهور (د جودهپور والي) او قاسم خان وو مات کړ. د سمو ګړهه په جګړه کښې دارا شکوه چې زوی ئې سپهر شکوه هم ورسره وهٔ پخپله د بادشاهي فوځ کمان کولو. اورنګزیب او مراد ئې مقابل وو. په دغه جګړه کښې د برې نه پس اورنګزیب د خپلې بادشاهۍ اعلان وکړو څلورمه جګړه د اله آباد نه ۹۵ میله شمال مغرب ته په کهجوه کښې شوې وه. چې اورنګزیب پکښې شجاع مات کړو. پینځمه او اخري جګړه د دیو رائے (د اجمیر نه څلور میله جنوب) ته وه چې اورنګزیب پکښې دارا شکوه له فیصله کونکے شکست ورکړو.

۲. سپهر شکوه نه بلکې سلیمان شکوه. وګورئ له دغه وړومبي نوټ.

۳. ن ا "راطوري". ن ب "راتوري".

۴. خلیل الله خان د اصالت خان ورور.

۵. زما د وړاندې پښتو عبارت "او چتر سال برق هاډا ازاد خان". راو چهتر سال د هاډا یا هاړا راجپوتو چې د چوهان قبیلې یوه څانګه ده سردار او د بوندي والي وهٔ.

۶. دلته اصل عبارت کښې هم خلیل الله خان دے.

صـ ۱۹۰

. د افضل خان له بیانه دا اخذ کیږي چې داراشکوه پخپله د جنګ میدان ته نهٔ وهٔ ورغلے. خو دا صحیح نهٔ ده. وګورئ ص ۱۸۹ نوټ ۱.

۲. د مشرانو زامنو نامې ئې سلطان او محمد معظم وے. او هم دغه دویم زوی ئې چې بادشاه شو نو د بهادر شاه لقب ئې اختیار کړو. محمد سلطان د پلار په ژوند په بندي خانه کښې وفات شوے وهٔ. د اورنګزیب د دریو نورو زامنو نامې محمد اعظم، محمد اکبر او کام بخش وے. اکبر د پلار برخلاف بغاوت کړے وهٔ. ایران ته لاړ او هم هورې د پلار په ژوند ومړ. اعظم او کام بخش د اورنګزیب د مرګ نه پس معظم سره په جنګونو کښې پرله پسې ومړل.

۳. وګورئ ص ۱۸۹ نوټ ۱، ۲.

صـ ۱۹۱

تېته په سندهـ کښې د اباسیند په غاړه د کراچي نه جنوب مشرق ته ده. بکر خو یو د پنجاب د میانوالي ضلعې د بکر په تحصیل کښې د اباسین په غاړه د پنجاب د دریا خان او صوبه سرحد د ډیره اسماعیل خان ښار نه جنوب او له ملتانه شمال مشرق ته پروت دے. او

بـل بـكـر (او گـونـدي دلته ترې هم دغه ځائے مراد وي) له ملتانه جنوب مغرب ته د اباسين په غاړه په سندهـ کښې له ټټه شمال ته واقع دے. خير پور ورته نزدې جنوب ته او د اباسين بلې ښى غاړې ته شمالاً شرقاً د سندهـ شکارپور او جنوب شرقاً لړکانه پرته ده.

۲. کـچهـ او شـمـال تـه رن کـچهـ نومې علاقه د کراچى او ټټې نه جنوب مغرب ته دي. او جـنـوب مشـرق تـه ئـې د کاټهياواړ او گجرات علاقې دي. مغرب لورې ته ئې درياب (بحيره عـرب) دے. د سـمـنـدر يوه چره چې د کچهـ جنوب ته تيره شوې ده ترې د کاټهياواړ شمال مغربي برخه بيلوي.

۳. جسـونت سنگهـ چپاؤ کړے وۀ او سامان او اسباب ئې تالا کولو، او د اورنگزيب په سنگر کښـې سـمـه غلبله گډه شوې وه. نو د اورنگزيب فوځ ته داسې وينا کول لکه چې افضل خان والـې نـۀ صـرف لـه قياسه لرې بلکې له بحثه خارج دي. اورنگزيب ډيره لويه حوصله وکړه او فوځ ئې ډاډه کړو جسونت سنگهـ چې پوه شو چې زيات ورانے نۀ شم کولے نو وتښتيد.

۴. د شـجـا ع د شـکـسـت سبب دا نۀ وۀ لکه چې د تاريخ مرصع مؤلف ئې بيانوي بلکې سره د اورنـگـزيـب د ميـمـنـې (ښې اړخ) د ماتيدو او په قلب (مينځ) چې اورنگزيب ئې پخپله کمان کـولو د ډير زيات زور او خبيښ اورنگزيب نۀ صرف خپل قلب ټينگ وساتلو بلکې د شجاع پـه قـلب ئې زور راوړو او برابر ئې پرې زياتولو. تر دې چې د شجاع قلب ئې مات کړو او نور لښکر هم سره د سردار مخ په تيښته ونيو.

۵. دغه صفحه نوټ ۳.

۶. مـا سـوا د نـو مسـلـمو د يوې گنې کافر خو نور ټول راجپوتان وو خو لوظ اقرار ئې د کانې کـرښـه وه. هو ئې هو او نه ئې نه. لکه په توره مرنې هسې په قول رښتينې. خو جسونت سنگهـ سـره د دې چې د وچتې کورنى راجپوت او قبيله راټهور ئې په ميړانه په راجپوتو کښې جوته وه د هغۀ خپل خوئ بوئ له راجپوتو غير وۀ.

صـ ۱۹۲

۱. "و دارا شاه" الخ. يعنې په طرف د دارا شا مقابلې لره روان وۀ.

۲. وگـورئ ص ۱۷۹ نـوټ ۱. کـۀ دا سـوال خـواب شوے وي نو هغه وخت چې دلير خان د بهـادر پـور د جـنـگ نه واپس شوے وي او دا سوال خواب به د سمو گړهـ جنگ سره متعلق وۀ.

صـ ۱۹۳

۱، ۱ الف. بـنـگـال. دا شـعـر د خـوشـحـال بابا مشهور نظم "ترکيب بند ذوالقافيتين" کښې

راغلي دي.
۲. يعني آسام. د مغلوالي په فارسي كتابونو كښې آشام هم راغلې دې.
۳. زما په مخكښې پښتو عبارت "تر آسام تر زمكه ئې ورساوۀ". شجاع په اخره د اراكان راجه څخه پناه اخستې وه. اراكان د مغلوالي په تاريخونو كښې د رخنګ په نامه ياد شوې دې.
۴. زما د وړاندې پښتو نسخو كښې "بهادر سنګهـ" راؤ بهاؤ سنګهـ هاډه د بوندي د راؤ چهتر سال هاډه زوې او د مهاراجه جسونت سنګهـ اخښې (د ښځې ورور) وۀ.
۵. د شاه آباد قصبه د شاه جهان پور له ښاره جنوب ته د هردوئي په ضلع كښې واقع ده. د هردوئي ضلع د شاه جهان پور له ضلعې جنوب مشرق او سيتا پور له ضلعې جنوب مغرب ته له دواړو متصله ده. دغه درې واړه ضلعې يو بې كښې دي.

ص ۱۹۴

د دلير خان او يوسف خان مور لكه چې په تيرو نوټونو كښې د يادګار سلف او تاريخ خان جهاني په حواله عرض وكړې شو رابعه نوميده. او د ملك عبدل مغل خيل ګګياني لور وه.
۲. زما د وړاندې نسخو كښې "سو". (سو يا سيو) يعني شواجي مرهټه چې عام طور سره سيواجي مرهټه بلل شي.
۳. د بكلانه له كوټونو څنې دوه مشهور كوټونه. د بكلانه دپاره وګورئ ص ۱۶۴ نوټ ۲

ص ۱۹۵

د نواب دلير خان چې نامه ئې جلال وه وفات د ۶۴ يا ۶۵ كالو په عمر كښې په ۳ شوال ۱۰۹۴ هـ (۲۵ ستمبر ۱۶۸۳ ء) شوې وۀ. نواب دلير خان لكه د خپل مشر ورور نواب بهادر خان د مغلوالي له ډيرو مشهورو عسكري شخصيتونو څنې دې. او لكه چې نواب بهادر خان او شاهجهان د عهد په واقعاتو خور دې نو دغسې نواب دلير خان د اورنګ زيب د عهد په واقعاتو كښې ښكاره ليدۀ شي. نواب صاحب يو بهادر سپاهي او قابل جرنيل وۀ. عمر ئې د پلار د مرګ په وخت لس يوولس كاله بيانيږي. ګوندې څۀ زيات وي. د شاهجهان په عهد كښې ئې څۀ لږ ډير حالات ورومبې راغلي دي. د بلخ او بدخشان د مهم په دوران كښې په رمضان ۱۰۵۶ هـ چې كومو عهده دارانو ته د شلو لكو روپو د خزانې د كابل قلعه دار ذوالقدر خان ته د رسولو كار سپارلې شوې وۀ. په هغو كښې نواب دلير خان (هغه وخت جلال) هم وۀ. چې نواب بهادر خان وفات شو نو شاهجهان د دلير خان په منصب كښې اضافه وكړه. او د دوهزارې دو هزار سوار منصب دار شو. په ۱۰۶۷ هـ كښې سره د نورو اميرانو د شهزاده

اورنگزیب په رکاب کښې د بیجاپور په مهم مقرر شو. او د دې مهم په دوران کښې ئې د قدر وړ خدمتونه وکړل. او په ډیرو موقعو ئې د غیر معمولي شجاعت او تهور ښېښنه وکړه. د شاه جهان تر عهد حکومته ئې منصب هم دو هزاري ذات دو هزار سوار وهٔ. چې شاهجهان د ۱۰٦۷ ھ د ذوالحجې په میاشت (دسمبر ۱٦٦۷ء) کښې ډیر ناروغه شو. او د بادشاه زادګانو په منځ کښې جنګ ولګید نو د تخت نشینی په دغه جنګ کښې چې دلیر خان کوم کردار ادا کړے وهٔ. د هغهٔ په حقله تاسو معلومات حاصل کړل. د معظم خان میر جمله خان خانان په ملګرتیا کښې دلیرخان د شجاع د تعاقب په لړ کښې د بنګال او آسام په معرکو کښې ډیر لوئې خدمتونه وکړل. او ځنې وخت خو ئې د داسې میړانې او زړهٔ ورتوب مظاهرې وکړلې چې د خافي خان (منتخب اللباب جلد ۲ ص ۱۴۷. ۱۴۸) د وینا مطابق "دلیرخان چنان داد تهور داد که اگر رستم دستان شمه اے ازان داستان می شنید۔ زبان به انصاف کشاده اسم رستی برخودنمی پسندید و اگر افراسیاب آن جرات و جلادت رامشاهده می نمود انگشت حیرت بدندان میگزید"۔ "دلیر خان چې څرنګ له خطرې بې پروا میړانې وکړلې کهٔ رستم دستان له دې داستانه څهٔ لږ څهٔ آوریدلے وے نو د انصاف په ژبه به ئې ځان لره د رستم د نامې د نام و زینت اعتراف کړے وے. او کهٔ افراسیاب هغه جرأت او جانبازي لیدلے وے نو له ډیرې حیرانتیا به ئې ګوتې په غاښونو چیچلے وے". د اجمیر په جنګ کښې هم د نواب صاحب شخصیت سره د خپل ورارهٔ دلیر همت خر ګند لیدهٔ شي. چې د اورنګ زیب په ماما امیر الامرا نواب شائسته خان شواجي شبخون وکړ نو بادشاه (اورنګ زیب) نواب دلیر خان د مرزا راجه جے سنګهه سره د شواجي سرکوبۍ لره ولیږلو او هم نواب صاحب وهٔ چې د شواجي قافیه ئې داسې تنګه کړه چې هغه په اطاعت کولو او خان سپارلو مجبور شو. نواب صاحب د اورنګ زیب د عهد له شروع ۱۰٦۸ ھ (۱٦۵۸ء) تر خپله وفاته ۱۰۹۴ ھ (۱٦۸۳ء) ډیر اهم کردار ادا کړے دے. او په میدان جنګ کښې ئې همیشه د حیرت انګیزې میړانې او شجاعت او د غیر معمولي عسکري قیادت او قابلیت مظاهرې کړې دي. په حیثیت د یو سپه سالار د نواب صاحب د عظمت او جلالت شان د ثبوت دپاره د اورنګ زیب په شان د یوهٔ قابل، اولوالعزم، مستقل مزاج او بهادر حکمران شهادت کافي دے او بیا هغه شهادت چې په ډیرو روښانو او خلاتد الفاظو کښې وي. بادشاه په یوه موقع د دلیر خان په حقله وئیلي وو: "فوجے که سردارش دلیرخان باشد در مقابل او غیراز خود دیگرے رانمی بینم". یعنې هغه فوځ چې دلیر خان ئې سردار وي نو بې له ځانه ئې څوک د مقابلې نهٔ وینم". (مآثر الامراء جلد۲ د دلیر خان سوانح عمري). د سلسله کولړې مؤلف جناب شیخ محمد اکرام صاحب په "رود کوثر" کښې په ځائے وائي چې د دکن په مهماتو کښې خو هم دلیر خان او نور پښتانهٔ

جرنیلان د اورنگ زیب ملاتړ وو .(ص ۴۷۲ ۴۷۳ ۴۷۴).

نواب صاحب په بوتهه (ضلع میرتهه) کښې پیدا شوے وۀ او اورنگ آباد کښې وفات شوے وۀ او نعش ئې له هغه ځایه راوړ شو او شاه آباد کښې ښخ کړے شو . د شاه آباد قصبه (ضلع هردوئي) د موضع انگی کهیره په محل وقوع هم نواب صاحب په ۱۰۸۷ هجري (۱۶۷۷ء) کښې آباده کړې وه. په شاه آباد کښې د نواب صاحب جمات ''بڑی ڈیوڑھی'' لویه ډیوډۍ او د نواب صاحب مقبره مشهور ځایونه وو. بړې ډیوړهې خو ډیره موده اگاهو ورانه شوې وه او صرف دوه ښائسته دروازې ئې یادگار پاتې وې. خو نور دوه عمارتونه د برعظیم هند او پاکستان تر ویشه موجود وو.

د عهد عالمگیري په سرکاري تاریخ مآثر عالمگیري انگریزي ترجمه ص ۱۴۵ او هم مآثر الامراء جلد ۲ ص ۵۵ کښې د نواب صاحب د وفات د ذکر نه پس لیکلي دي چې ډیر قوي هیکل او شهزاده وۀ او د قوت او اشتها په حقله ئې ډیرې عجیبه خبرې (حکایت هائے غریب) مشهورې دي، د خپل قام په خلقو ئې ډیر ښۀ قابو وۀ. همیشه ئې فتح نصیب شوې وه. د زمانې د موافقت او د بخت د ملگرتیا په وجه ئې دولت او شوکت همیشه په عروج وۀ. نۀ ئې چرې د زمانې څپیړه وخوړه او نۀ ئې چرې د خوارۍ او ناکامۍ مخ ولید.

تر څو چې نواب صاحب د اشتها تعلق دے نو د مآثر عالمگیري او مآثر الامرا بیانونو سره کۀ د نواب صاحب خانداني روایات هم مد نظر وساتل شي نو په میدان جنگ کښې خو ئې اورنگ زیب لکه چې هغۀ وئیل مقابل کیدے شو خو په دسترخوان ئې مقابله گرانه وه. د باره بستي د خانانو د یوۀ زوړ روایت له رویه به نواب صاحب د شلویښتو ورتو چرگانو ناشته په یوازې ځان خوړله.

د نواب صاحب په مهر کښې دا شعر کنستلے شوے وۀ:

جلال داشت ز روز ازل چو صدق ضمیر

دلیر خان شده ز الطاف شاه عالمگیر

د نواب صاحب اووۀ زامن وو چې نامې ئې دادې: (۱) دلدار خان (۲) فتح معمور خان (۳) چاند خان (۴) فتح خان (۵) کمال الدین خان (۶) الله دیے خان او (۷) جمال خان.

د وفات په وخت د نواب صاحب منصب پنج هزاري ذات پنج هزار سوار دو اسپه سه اسپه وۀ. د نواب دلیر خان د وفات ذکر سره د باره بستې د پښتنو امراؤ ذکر ختم شو. وروسته د څنو نورو پښتنو امیرانو ذکر دے.

۲. نظر بهادر خویشگي.

۲، ۳الف. سلطان پرویز د جهانګیر دویم او سلطان خرم ئې دریم زوے وۀ. خرم د جهانګیر د مرګ نه پس د شهاب الدین شاهجهان په لقبونو بادشاه شو. ورومبے زوے ئې سلطان خسرو او څلورم او پینځم سلطان جهاندار او سلطان شهریار وۀ. خسرو او پرویز د پلار په ژوندانۀ مړۀ وو.
۴. وګورئ د دې مخ شروع. هلته د جهانګیر په عهد کښې د نظر بهادر خویشګي (چې د بهادر خان په نامه یاد شوے دے) منصب چار هزاري بنیلے شوے دے. د شاهجهان د عهد د ورومبي دور (لسو کالو) په اخر کښې د نظر بهادر خویشګي منصب دو هزار و پانصدي ذات هزار و پانصد سوار وۀ. (بادشاهنامه جلد ۱ حصه ۱ ص ۳۰۱) د دویم دور (لسو کالو) په اخر کښې سه هزاري ذات دو هزار و پانصد سوار (بادشاهنامه جلد ۲ ص ۷۲۳) او دریم او اخري دور کښې چار هزاري چار هزار سوار وۀ. (عمل صالح جلد ۳ ص ۴۵۲) د دریم دور په شپږم او د عهد په شپږ ویشتم کال کښې وفات شوے وۀ. عمل صالح جلد ۳ ص ۱۳۸
۵. د مغربي پاکستان د پنجاب صوبې د لاهور د ضلعې تحصیل او هم په دغه تحصیل کښې قصبه چې له لاهور نباره سهیل څخو خاتیز ته پرته ده.

ص ۱۹۶

. زما په مخکښې پښتو عبارت "واړو وکښل نۀ شول." باید داسې وې "واړه" الخ. (لکه چې تصرف وشو) او یا "حال د واړو وکښل نۀ شۀ."
۲، ۲الف. قلابست یا کلابست. د قندهار سهیل لویدیز او له ګرشکه سهیل ته.
۳. دغه بیان د اخون درویزه په تذکرة الابرار والاشرار فارسي کښې راغلے دے. (وګورئ ص ۸۶ تر ۹۶ د اداره اشاعت سرحد پېښور چاپ).
۴. تذکرة الابرار والاشرار ص ۸۶. اهل انساب د قیس مخاطب په عبدالرشید بطان درې زامن سړبن، بټن او غورغښت. او بیا د سړبن دوه زامن شرکبون یا شرخبون (شرف الدین) او خرشبون (خیر الدین) یادوي. خښے او غوري د خرشبون نمسي بللي.
۵. ن ا "نورمند". د خرشبون درې زامن کند (د خښي او غوري پلار) ځمند (د مهمندزو او خویشکو او کتالو وغیره ؤ مشر) او کاسي (د کاسیانو، زمریانو. چې په صوبه سرحد کښې ګمریاني بلل شي او شنوارو وغیره ؤ مشر) وګورئ تاریخ خان جهاني جلد ۲ ص ۸۹۸، ۸۹۹.

ص ۱۹۷

۱. یو روایت هم دغه شان دے او د هل له رویه خلیل د مومند او داؤد ترۀ نه بلکې ورور ئې وۀ. او زیران او څمکنے د غوري زامن نۀ وو بلکې په زامنو ئې نیولي وو. (تاریخ خان جهاني جلد ۲ ص ۸۴۴،۸۴۵).

۲. د زیړان نوم یو لوړے کلے په کرمه کښې پاړه چنار (زوړ توتکي) ته بالکل نزدې پروت دے. هر کله چې پاړه څمکني ورته هم نزدې میشت دي او دغه ځائے هم د سپین غر په خطه کښې دے نو ګوندې د زیړان کلي عالم له زیړان له قبیلې دي. پاړه څمکني سنیان خو زیړان (غالباً د توریو د اثر له قبله) شیعه دي.

۳. یعنې هم دغه ګګیاني ئې (د لور له اړخه) اولاد دے.

۴. یا "مندن".

۵. یعنې عمر.

ص ۱۹۸

. زما د وړاندې نسخو کښې "مسند".

۲. ترین (تور او سپین). ابدالي، بړیخ، شیراني، ارمړ، میانه وغیره دا د شرکبون اولاد دے.

۳. دلته زمونږ په نسخو کښې "زمند".

۴. یو الغ بیګ خو د تیمور زوے وۀ. او په اولاد کښې ئې بل په دغه نامه د بابر یو ترۀ وۀ. خو هر کله چې دغه واقعه د زماني د نعین په لړ کښې څۀ لږ په مخ د بابر له فرغانې د راتلو نه وړومبی یاده شوې ده. نو ښائي چې له دې کبله دغه الغ بیګ د بابر ترۀ وګڼل شي.

ص ۱۹۹

۱ "چګا". تذکرة الابرار والاشرار ص ۹۳ (جنکي. جنکے).

ص ۲۰۰

۱ "په موضع حصارک ئې" تذکرة الابرار والاشرار ص ۹۴ "در موضع حصارک".

۲. "و مردم ګګیاني نیز در موضع باسول مانده." (تذکره ص ۹۴).

۳. "---- چون با جوڑ را خوش نه کردند یا توان ندیدند برگشتند سرداران ایشان آمده سرداران دلازاک را بهمه خوانده در موضع سفید سنگ مجلس ساختند." (تذکره ص ۹۴).

۴. د خیبر د درې قطب ته.

۵. سوات. تذکرة "صوات". (ص ۹۴).

۶. ن ب "ولو".

ص ۲۰۱

اګر کۀ مهمندزے خښیے نه بلکې خمند دے خو لکه د خښې غوري سړبنے دے او د خښې او غوري (چې د کند ولد خرشبون اولاد دے) د ترۀ (د کند د ورور خمند) اولاد دے. او دلازاک کرلانے او مقابلةً ډیر لرې دے. کرلاڼ د اورمړ چې د شرکبون (د خرشبون د ورور)

زوړے وۀ. متبنیٰ دے.

۲. اتمانخیل کرلانے دے خو له قدیمه د خټنې ملګرے وۀ. وګورئ ص۱۹۸ متن د خپل کتاب.

۳. ګدر د مردان ضلعې په مردان تحصیل کښې د مردان له ښاره قطب نمرخاتۀ ته د بائیزو په تپه کښې دے. خو د ډیرې مودې راسې پکښې ختک آباد دي.

ص ۲۰۲

۱. دغه خائے د مودو راهسې د یوې هدیرې په شکل کښې د پیرپائې نه په لږه فاصله شمال مشرق ته او د نوښار چاونۍ او زوړ نوښار ختې کلي ته هم ډیر لنډ د لنډې سیند په ښې غاړه پروت دے. جرنیلي سړک او د ریل پاټلې په مینځ کښې تیره شوې ده. د څو کلونو راهسې ورته نزدې نمرخاتۀ لورې ته د کارخانو د جوړیدو له قبله آبادی وشوې. سر اولف کیرو ئې په خپل کتاب "دي پټهانز" کښې محل وقوع د شاه عالم سیند په غاړه پرې جوړ پل ته نزدې ښنیلے ده. (ص ۱۸۸) خو دغه ځائے سره نۀ شیخ تپور چا لیدلے نۀ اوریدلے دے. او د راقم تاکلے ځائے هم په شیخ تپور مشهور دے. اګر کۀ دغه ځائے د غوریاخیلو په تپه کښې نۀ دے خو ورته بالکل نزدې لویدیز لورې د غوریا خیلو قدیمې باندې دي. او بله اهمه خبره دا ده چې تاریخ حافظ رحمت خاني ئې په خوا کښې د لنډې سیند یادوي. او کۀ یوسفزیو د پېښور، مردان لار چې په نوښار تیریږي اختیاره کړې وې نو د لنډې نه د راپورې کیدو نه پس هم دغه ځائے موزون وۀ چې غوریاخیلو ئې مخه نیولے وے. په عکس د دې کۀ د سر اولف کیرو تاکلے ځائے د جنګ منظر وګنو نو یوسفزي به د پېښور مردان په هغې لارې راغلي وې چې په چارسده تیریږي نو شاه عالم ته د رارسیدو نه وړومبے خو به د داؤدزیو د تپې د لوېې برخې راتیر وو او له شاه عالمه به وړومبے له جینډي، خیالي، سر دریابه او ناګمانه راپورې وتل. نو غوریا خیل داؤدزي به ئې تر شاه عالمه تماشه څنګه کوله.

۲. په زړو آثارو کښې د دغه جنګ حال د اخون درویزه تذکرة الابرار والاشرار زمونږ تاریخ مرصع (چې مؤلف ئې له اخون درویزه استفاده کوې) او تاریخ حافظ رحمت خاني بیانوي. اګر تاریخ حافظ رحمت خاني په موجوده شکل کښې له تاریخ مرصع وروستو لیکلے شوے دے خو چې د کوم تاریخ افاغنه دا کتاب تلخیص دے هغه ترې ډیر وړاندې د جهانګیر په عهد کښې لیکلے شوے وۀ. تاریخ حافظ رحمت خاني په ملخص شکل کښې هم په مقابله د دوؤ نورو یادو شوؤ کتابونو د دغه جنګ په باره کښې زیات تفصیلات لري.

زما د وړاندې د تذکرې په چاپې نسخې کښې دومره قدر عبارت دے: "تازمانیکه سرداری

این الولس به خان کجو آمد درین ایام این مردرابامردم غوری خیل محاربهٔ عظیم درموضع شیخ تپور افتاد۔ سماع است که مردم غوری خیل رادوازده هزار سوار بودند همگی یکسره تاختند ۔ اکثر ایشان به تیرهائے این مردم دوخته کشته شدند مگراند کے۔ سماع است که درزیر بند اسپ یک سوار دوازده تیرخلیده بودند فتح بنام این مردم شده۔" (ص ۹۱) یعـنـې تـر هغه وخته پورې چې نوبت د سرداری د خـان کـجـو دے... دولس غشي لگ وو." (د تاريخ مرصع متن ص ۲۰۲) تر دې چې برے د دغو خلقو وشو.

د تـاريخ حافظ رحمت خاني د بيان له رويه پس له جنگه خان كجو غوريه خيلو سره د عـزيزولئ ډير ښهٔ سلوک وکړو. د دغه جنگ کهٔ هر څهٔ اسباب وو او هر څهٔ ئې نتيجه خو نهٔ خـو مـحـاربهٔ عظيم او نهٔ څهٔ لويه فتح وه. غالباً چې په دواړو کښې هر يوهٔ طرف ته يوه وړو کے ډلـه يـا لښكر وهٔ. او تر مينځه د ښې مرگ ژوبلې نه پس د يوې ډلې زيات او د بلې کم نقصان شـوے وهٔ. او د روايـت او تـخـيـل حـاشيـه آرايـی ورلـه د يوهٔ لوے جنگ او لوے برې رنگ ورکړو.

دغه جگړه غالباً چې په هندوستان کښې د سوريانو د عهد حکومت په دوران کښې د کـال ۹۵۷ هـجـرې (۱۰۵۰ هـجـرې) خواؤشا شوې وه. د خان كجو شجره تر خښبي پورې داسې ده:

خښبے : (د غورې وروړ ـــ د کند زامن)

عمر : (د يوسف وروړ او دوه نور ورونه ئې تر كلانے او گگيانے)

مندڼ : (د يوسف ورارهٔ او زوم)

منو : (او درې زامن نور. د منو ورونه خضر، رخړ او مامو)

اتمان : (او دوه زامن نور. د اتمان ورونه، کمال او اما)

سدو : (او درې زامن نور. د سدو ورونه اكا، كنا، علي)

بهزاد : (او پينځهٔ زامن نور. د بهزاد ورونه. خضر، عمر، مير احمد، ابا، او محمد)

قرا : (او يو زوے بل. د قرا وروړ علي)

خان کجو

وگورئ تـاريـخ خـان جهـانـي جلد ۲ ص ۵۷۶ تر ۵۸۸ خو په ۸۹۹ چې د خرشبون د اولاد کـومـه شـجره ورکړې شوې ده پکښې قرا نشته او د بهزاد دوه زامن خان کجو او علي ښيلي شوي دي. نو خان كجو په خښبي کښې سدوزے مندڼ وهٔ.

اخـون درويـزه د خښبي دوه زامن مندے او مک له يوې ښځې مرجانې او بل ترک له دوېمې ښځې بسو يادوي. او گگيانے د مک د لور گگۍ اولاد يادوي چې عهل شهون زيرک

تـه ئـې وادۀ کـړې وه. او عـمـر او يـوسف د منديځ زامن بولي. (وګوري تذکره ص ۸۷، ۸۸)
تاريخ خان جهاني جلد ۲ ص ۵۷۷، ۵۷۸ د خان کجو په حقله وائي: ''قرا ابن بهزاد را يک پسر شاه ورا خان کجو ی گفتند و قوم يوسفزی نه لک نيزه می گويند در تحت حکم او بود و بعد از ملک الملوک ملک احمد که برادرزاده سليمان شاه بود و تمام يوسفزی در تحت فرمان او بودند مثل خان کجو در آن قوم پيدا نه شد. گويند که خواجه خضر را او ملاقی شده بود و با شير شاه که بادشاه هندوستان بود دم مخالفت و همسری زده بود.'' د عبـارت مطلب دا دے چې د ملکانو ملک (يا شهنشاه) ملک احمد د سليمان شـاه د ورارۀ نـه پسـر د قرا چې د بهزاد زوے وۀ د زوي خان کجو په شان په يوسفزيو کښې بل پيـدا نـۀ شـو. يـوسـفـزے اولـس چـې نهـۀ لکه نيزې وۀ تول ئې د حکم د لاندې وۀ. وائي چې خـواجـه خـضـر سـره ئـې هم ليدۀ شوې وو او د هندوستان بادشاه شير شاه سوري سره ئې هم سيالي او مخالفت کړے وۀ.

۳، ۳ الف. ن ا ''ملـکـان'' ن ب ''مـلـکانو''. ن ا ''عيسوي'' په ځائے د ''عيسائي'' د عيسائي نه مـراد نـصاريٰ نۀ دي بلکې د شيخ عيسيٰ (چې يو پير وۀ) مريدان دي. خوشحال بابا په سوات نامه کښې چې په مخ راتلونکي ده وائي:

يـوسـفـزيـه هـمـه واړه عيسـائـي وو ــــ مـلـنـګـانـو سـره ګډ پـه سوائـي وو

مـلـنـګـانـو به يزيد ته کړے ښکنځلې ــــ درويـزه بــه د يـزيـد ډوزې بـلـلـې
خـو د نـفس و د هوا په کار ئې مخ شۀ ــــ مـلنګان چې ورکيدل د دۀ به سخ شۀ
مـلـنـګـان ئـې واړه وويستل له سواته ــــ دم ئـې وواهــۀ لــه کشف و کراماتـه

د دروېمې شعر په دويمه مصرعه کښې لکه چې زما په مخکښې د سوات نامې په چاپه نسـخـه (په ارمغان خوشحال کښې شامله) درج ده د ملنګانو په ځائے ملکانو لري خو په نورو شـعـرونـو کښې ''ملنګان''. چې تر څو د تاريخ مرصع د نظر د وړاندې ځائے تعلق دے د ميجر راورټـي پـه ''ګـلـشـن روه'' کښې شامل د تاريخ مرصع انتخاب کښې هم لفظ ''ملنګانو'' دے. وګوري ''ګلشن روه'' کښې شامل د تاريخ مرصع د انتخاب ص ۱۲. د پادري هيوز په ''کليد افغاني'' کښې شامل انتخاب دا ځائے نۀ لري.

پـه سـوات نـامـه کـښـې راغليو د خوشحال بابا د پورتنو شعرونو نه به دا اندازه لګول غـلـط وي چې ګنه هغه د ملنګانو د عقائدو ملګرے وۀ. صرف د يزيد په مذمت کولو کښې ئې د هـغـوي ملګرتيا او د تشيع د مخالفت په جوش کښې چې اخون درويزه د کربلا د حادثې په لـړ کـښـې د يـزيـد لـه اوړو د ذمه داری د بار لرې کولو کوم زيار کاږلو د هغۀ مذمت ئې کړے دے.

۴. لکه د هغه زماني د نورو بدعتيانو پيرانو خوشحال بابا په سوات نامه کښي د بايزيد ارمړ چي موافقانو ئې پير روښان او مخالفانو ئې پير تاريک بللو هم سخته غندنه کړي ده. اگر کۀ لکه نورو مخالفانو به يادولو د پير تاريک په نامه ئې نۀ دے ياد کړے سره د دې چي په خپلو تصنيفاتو کښي خوشحال بابا د کربلا د حادثې په باره کښي د اخون درويزه په خيالاتو او د هغۀ د کم علمي استعداد په وجه په هغۀ سخت انتقاد کړے دے. چي تر کومه د بايزيد ارمړ په مقابله کښي د هغۀ د موقف تعلق وۀ نو د اخون درويزه تعليم ته د ايمان او د بايزيد ارمړ تعليم ته د کفر تلقين وائي. د خپل نفس د غندنې په لړ کښي وائي:

زۀ د درويزه غونډې ايمان ښيم و دۀ ته

دے د پير روښان غونډې د کفر کا تلقين (ديوان غزليات. رديف ن)

۵. د اخون درويزه مخزن الاسلام عقائد او مذهبي مسائل بيانوي او د بايزيد ارمړ غندنه هم کوي. په تذکرة الابرار والشرار کښي اخون درويزه د بايزيد او د هغۀ د خاندان او اولاد تاريخي حالات هم بيانوي. او د هغۀ په عقائدو اعتراض او انتقاد هم کوي. (تذکرة ص ۱۳۶ ـ ۱۵۹) علاوه له دې د پښتنو په حقله په دغه کتاب کښي نور تاريخي معلومات هم شته او په ځنو نورو کسانو هم له مذهبي نقطۀ نظره نکته چيني لري.

۶. اخون درويزه کاني گورم د قندهار په حدودو کښي يو کلے يادوي چي اورمړ او انصاريان پکښي اباد دي. (تذکره ص ۱۳۷)

کاني گورم د بنو د ضلعې نه سهيل لويديز ته سهيلي وزيرستان کښي د محسودو په علاقه کښي دے. اورمړ پکښي اباد دي. د عبدالله خاندان په اصل انصاري عرب وۀ خو له ډيرې مودې په اورمړو کښي آباد ورسره يو شوي وۀ. د بايزيد د زيږون کال ۹۳۱ هجري (۲۵-۱۵۲۴ء) خواۋشا ياد شوے دے.

ص ۲۰۳

۱. ن ب "..... تپه د خليل ډير د دۀ". الخ.

۲. "در موضع کله ډهير متوطن شد.". (تذکره ص ۱۵۳).

۳. د دغو مبارکو آيتونو نه به دا مطلب اخستل لکه چي د تاريخ مرصع مؤلف ترې اخستونکے ښکاري (او د خوشحال بابا دستار نامه هم وگورئ پېښور چاپ ص ۴۷ کابل چاپ ص ۳۶) چي وړومبے خو الله جل شانه د دين په باره کښي آزادي ورکړې ده او بيا ئې د ټولو مشرکانو سره محض د دين حق اسلام د نۀ قبلولو په وجه د جنگ کولو حکم وکړو. د قرآن پاک له تعليمه منافي دي. د الله جل شانه واضح او صريح حکم دے. "لا اکراه في الدين قد تبين

الرشد من الغی" الخ. (۲:۲۵٦) یعنې په دین کښې جبر نشته. تحقیق هدایت له ګمراهی ممتاز شو. تر څو چې د هغه آیهٔ مبارکه چې افضل خان ورته حواله کوي تعلق دے د جبر مطلب ترې اخستل هیڅ جواز نهٔ لري بلکې مطلب ئې دا دے چې لکه مشرکین په تاسو تشدد او دست درازی کولو کښې د هغو میاشتو خیال نهٔ ساتي په کومو کښې چې مرګ ژوبله منع ده. (او د بعثت محمدي علیه الصلوٰة والسلام نه اګاهو هم د احترام وړ ګڼلې شوې یعنې ذوالقعده، ذوالحجه، محرم او رجب) او هر وخت او په هر حال په تاسو تجاوز او جنګ درسره کوي. نو تاسو هم ورسره په هر وخت او هر حال جنګ کوئ. لکه چې هغوي درسره په ټولو وختونو کښې جنګ کوي نو تاسو ئې هم ورسره کوئ. او بل مطلب دا دے چې لکه هغوي ټول په جمع تاسو سره جنګ کوي نو تاسو هم ټول په جمع ورسره جنګ کوئ. یا دا چې لکه هغوي تاسو ټولو سره جنګ کوي نو تاسو هم هغو ټولو سره جنګ کوئ. لکه چې ارشاد دے. "..... فلا تظلموا فیهن انفسکم و قاتلوا المشرکین کآفة کما یقاتلونکم کآفة" الخ. (۹: ۳٦) نو تاسو د دغو (میاشتو) په باره کښې د ځان تاوان ونهٔ کړئ او له مشرکانو الخ.

ما برنې درې مطلبه په ترتیب د مولانا محمود الحسن صاحب د ترجمې (ہر حال میں) د شاه رفیع الدین صاحب د ترجمې (اور لڑو مشرکوں سے اکٹھے جیسا لڑتے ہیں وہ تم سے اکٹھے) او د مولانا اشرف علي تهانوي د ترجمې (اور ان مشرکین سب سے لڑنا جیسا کہ وہ تم سب سے لڑتے ہیں) په رڼا کښې بیان کړل. په دغه لړ کښې د الله تبارک و تعالیٰ دا حکمونه هم د نظر د لاندې د ساتلو دي. "وَ قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَ لَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ () وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ وَ اَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ حَيْثُ اَخْرَجُوْكُمْ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَ لَا تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ فِيْهِ ۚ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ؕ كَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ () فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ () وَ قٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّ يَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ؕ فَاِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ. (۲: ۱۹۰ تر ۱۹۳) او جنګ کوئ د الله په لاره کښې د هغو سره چې د تاسو سره جنګ کوي او زیاتے مهٔ کوئ تحقیق الله زیاتي کونکي نهٔ خوښوي. او وژنئ ئې کوم ځائے ئې چې مومئ. او له هغه ځایه ئې وباسئ چې ئې ترې تاسو ایستي یئ. او فتنه د وژلې نه سخته ده. او دوي سره د مسجد حرام په خواؤشا کښې جنګ مهٔ کوئ تر څو چې پکښې تاسو سره جنګ نهٔ کوي. کهٔ تاسو سره جنګ کوي نو تاسو ورسره هم جنګ کوئ. کافرانو لره هم دا سزا ده. خو کهٔ منع شي نو الله بخښونکے مهربان دے. او دوي سره جنګ کوئ تر څو چې فتنه نهٔ وي لرې شوے. او دین د خدائے دپاره نهٔ وي شوے. نو کهٔ منع

شي نو بې له ظالمانو په هيڅا سختي نشته.

وګورئ کفارو سره د سختي مقابلې تلقين کيږي خو هغو سره چې چا جنګ شروع کړے دے، چا چې په ملک کښې فتنه، شر فساد او اړے ګړے خور کړے دے او ورسره بار بار دا تلقين کيږي چې زياتے ونۀ کړئ. دغه شدت او سختي تر هغه وخته ده چې ظالمانو خپله رويه نۀ ده بدله کړے. کۀ هغوي له جنګه لاس واخلي نو خدائے بخښونکے او مهربان دے. او تاسو د هغه خدائے منونکي د هغۀ صفاتو سره سم عمل کوئ. او کۀ کفار له جنګه منع شي نو په هيڅا نه خو ظالمانو لره سختي ده. د اسلامي جهاد مقصد د فتنې ورکول او امن و امان قائمول دي. چې په داسې سازګار ماحول کښې د دين په باره کښې جبر او اکراه نۀ وي، دين د بنيادمو له ويرې يا د هغوي د خوشحالولو دپاره نۀ وي بلکې د الله رضا لره.

او بيا ارشاد دے "وَ اَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَّ مِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَ عَدُوَّكُمْ وَ اٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ وَ مَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَ اَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ() وَ اِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَ تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ (٨: ١١) يعني "او چې څومره درنه کيږي دغو کافرانو لره تيارے کوئ په وسله او په پالليو اسونو چې دغسې ووېروئ د الله دښمنان او خپل دښمنان. او علاوه له دوي نور چې تاسو ئې نۀ پيژنئ. خو الله ته معلوم دي. او چې څۀ د الله په لار کښې خرڅ کوئ هغه به پوره درکړل کيدے شي. او هيڅ تاوان به مو نۀ وي او کۀ دوي روغې ته مائل شي نو تۀ هم ورته مائل شه او په خدائے توکل کړه. هغه ښۀ اوريدونکے او ډير خبردار دے." نو اسلامي جهاد د جنګ او مرګ ژوبلې يا په چا د زور زياتي دپاره نه بلکې د روغې، امن او سلامتيا قائمولو لره، د زورورو او ظالمانو زور او ظلم کمولو او ورکولو لره دے.

ص ۲۰۴

. تورتې چې اوس لـه ډيره وخته راهسې د اتمانخيلو علاقه ده. هم د دغه اولس د يوې بلې علاقې د باجوړ د برنګ نه جنوب مغرب او د مومندو د کرپې او ګنداب قطب خاتيز ته او د مهمندزو، د اشنغر او ګګيانو د دو آبې نه قطب ته پرته ده. د خوشحال بابا له بياضه هم معلوميږي چې د هغۀ په وخت کښې هم په تورتې کښې اتمان خيل وو خو لکه چې به زر وليد شي د نظر د وړاندې بيان نه ښکاري چې د بحث د لاندې واقعاتو په وخت اتمانخيل د تيراه خواؤشا آباد وو.

۲. خيبر ته نزدې سهيل لورې.

۳. ارنګ برنګ لکه چې له بيانه هم ښکاره ده دواړه د باجوړ علاقې دي. د باجوړ مشرقي

برخه کښې دي. ارنګ شمال ته او برنګ ترې جنوب ته دے. دواړه د سوات جنوب مغربي برخې ته نژدې ترې مغرب رويه پراته دي.

۴. د بايزيد د مرګ کال په اختلاف ۹۸۰ هجري او ۸۹۳ هجري بيان شوے دے. (خيرالبيان ديباچه له مولانا عبدالقدوس صاحب ص ۳۱) او د تر لاسه تاريخي مواد له رويه ئې تعين ګران دے. (ايضاً ص ۳۲، ۳۳)

۵. دا زامن او لور ئې کمال خاتون له شمسو نومې ښځې نه، دولت ئې له توري نومې او الله داد ئې له دنی نومې ښځو دوه نور زامن وو. (د خيرالبيان ديباچه ص ۴۰ دغه ګټه په حالنامه مبني ده) د افضل خان بيان د اخون درويزه په تذکره ص ۱۵۵ مبني دے. دبستان مذاهب ص ۲۵۱ او مآثر الامراء جلد ۲ ص ۲۴۴. خير الدين نۀ يادوي. مآثر الامراء د کمال الدين په ځائې جمال الدين لري.

۶ ۱۰۰۹ هجري (۱۶۰۰ ء). جلال الدين چې د مغلوالې د زمانې په تاريخونو کښې د جلاله په نامه هم ياد شوے دے د ډيرې کلکې ارادې او لوړ همت څښتن او ډير بهادر او قابل ليډر وۀ. او څنګه چې باوجود د ډيرو مشکلاتو، سختو مخالفو حالاتو او څو بارې ناکامو هغه د اکبر بادشاه د امپراطورې قوت مقابله کړے او ورله ئې سر خوږے ورکړے وۀ د مغلوالې په تاريخ کښې ئې مثالونه ډير کم دي.

ص ۲۰۶

۱. ټوټه، ټکره يعنې برخه، حصه.

۲. بي بي مبارکه يا شارقه (وګورئ لائډن او ارسکن انګريزي ترجمه ص ۲۵۰ سره د حاشيې ص ۲۵۰ تر ۲۵۱) لکه چې دغه حاشيه وائي د يوۀ روايت له رويه دغه جينۍ د ملک سليمان د ورارۀ ملک احمد لور وه. يعنې د ملک شاه منصور د تربور لور. خو بابر ئې په واضح الفاظو کښې د ملک شاه منصور لور يادوي. وائي: "له يوسفزيو پښتنو ملک شاه منصور ملک سليمان شاه زوے را حاضر شو او د دولت خواهي اظهار ئې وکړو. يوسفزي اولس سره د ترون دپاره د هغۀ لور وغوښتلې شوه. نمابنام د شرابو څښلو مجلس جوړ شو سلطان علاؤ الدين پکښې شريک کړے شو. او خلعت مې هم وروبخښلو. په ۲۸ تاريخ د اتوار په ورځ د کهراج له درې ووتلو. د شاه منصور ورور طاؤس خان يوسفزي په دغه منزل کښې خپله وريره راوستله." (لائډن او ارسکن ص ۲۵۰ اردو ترجمه ص ۲۶۸. د کال ۱۵ (هجري ۱۰ ـ ۹۵۰۹ ء) د باجوړ د تسخير حال د ۹۱۵ هجري (۲۱ اپريل ۱۵۰۹ ء) تر (اپريل ۱۵۱۰ ء) د عنوان لاندې بيان شوے دے. د لائډن او ارسکن په انګريزي ترجمه کښې

د کـال ۹۲۵ هـجـري (۱۵۱۹ء) [۹۲۵ هـجـري = ۳ جنوري ۱۵۱۹ء. ۲۲ دسـمبر ۱۵۱۹ء] لانـدي پـه ص ۲۴۷-۲۵۲ او د تـالبـټ پـه مختصره ترجمه کښې د کال ۱۵۱۹ء لانـدي پـه ص ۱۴۳ او ص ۱۴۴. پـه اصل کښې د کال ۹۱۵ هجري د جزوي واقعاتو د بيان نه پس تر کال ۹۲۵ هجري واقعات مفقود او بيا د کال ۹۲۵ هجري واقعات د باجوړ د تسخير وغيره بيـان شوي دي. د افضل خان د بيان له رويه هم د باجوړ تسخير پـه ۹۲۵ هجري کښې شـوے وۀ. خـو هـغـه ئـې د کـابـل د تسخير پـه څوارلسم کال يادوي. د کابل د تسخير د کال ۹۱۰ هـجـري (۱۴ جـون ۱۵۰۴ء تـر ۳ جـون ۱۵۰۵ء) د واقعاتو پـه ضمن کښې راځي. نو دغسې ۹۲۵ هجري بـه د کابل د تسخير شپاړسم کال وي.

ص ۲۰۸

بابر نامه اردو ترجمه ص ۲٦۸.

۱. بـابـر نـامـه اردو ترجمه ص ۲٦۸ "...... د کهراج له دري ووتلو" الخ. و گوری ص ۲۰٦ وټ ۲.

۲. ن ا. ن ب "بهنسوټ" لائډن او ارسکن ص ۲۵۱ "د بيسود عالم" (حاشيه ۲ بهسوټ) بابر نامه اردو ترجمه ص ۲٦۸ "بهسوت لوگ" يعنې بهسوت عالم، خلق يا اولس.

۱. بهيره د پنجاب پـه سرگودها يا شاه پور ضلع کښې د جهلم د ضلعې رهتاس نه سهيل څخو لويديز ته ده او د پنجاب د ميانوالي ضلعې ميانوالي نومے ښار لويديز ته د اباسين پـه غاړه واقع ده.

د لائـډن او ارسـکن پـه ترجمه کښې د "مقام" محل وقوع بونير ښئيلے شوے دے او تالبټ رسـره "هـل" غـر يـا غـونـډی لفظ زيات کړے او د محل وقوع تعين ئې نۀ دے کړے. د اردو ترجـمې عبـارت داسـې دے چې گويا مترجم "مقام" د څۀ خاص ځائے نوم نه بلکې مطلق ئې ښئيلے دے. د اخون درويزه له تذکرې معلوميږي چې د شهباز قلندر مقبره گړهي کپوره (چې پرومبے بـه ئې ورته لنگر وئيل او بيا لنگر کوټ ونوملې شوه) ته نزدې هغه ځائے وه چې اوس ورته شهباز گړه وائي. اخون درويزه ليکي ''وبعدازان که خوانين اکبر بادشاه به اين مردم يوسفزی توجه نمودند موضع لنگر قلعه ساخته آنرا لنگرکوٹ نامیده ومقبره این لعین را شهباز گڑهه نامیده زیرا که از حقیقت این لعین باخبر نبوده۔'' (ص ۱٦۱ د بشپړ سال دهـاره و گـوری ص ۱۵۹ تـر ۱٦۱) نو معلومه شوه چې د "مقام" څنې "مقام نالۀ" يا کنده راد ده. چې لـه شماله جنوب رويه راغلې څو ميله ښکته کلپانی کښې گډه شوې ده. تر څو چې د "هـل" (غر يا غونډی) تعلق دے نو مقام خو نۀ غر او نۀ غونډی ده خو شهباز گړه کښې غر او غـونـډی ضـرور شتـه. او تـاريخ مرصع هم لکه چې تاسو وليدل وائي چې "قبر د شهباز

قلنـدر پـه بـلند ځائے وۀ." چې هغه ئې هوار کړ نو په مقام ئې ډیره ونیوه. مقام او بلږ هم سره گډېږي د شهباز قلندر د قبر هوارولو ذکر بابر پخپله هم کړے دے. (بابرنامه اردو ترجمه ص ۲۶۹ او تـالبټ ص ۱۴۶) خو د اخون درویزه له نقل شوي بیانه معلومیږي چې د اکبر باچا په وخت کښې د شهباز قلندر مقبره وه گوندي مریدانو ئې بیا جوړه کړې وه.

۶. د پنجاب د سرگودهې ضلعې یوه علاقه (تحصیل).

ص ۲۰۹

۸۹۹ هـجـري (۹۴-۱۴۹۳ء). ن ب "انـصو الخ" صحیح سن ۸۹۹ هجري دے بابر په ۹۳۷ هـجـري (۱۳-۱۵۳۰ء) پـه وړومبي کال عیسوي کښې وفات شوے وۀ. ۹۹۹ هجري (۹۱-۱۵۹۰ء) د هغۀ د نمسي اکبر د حکومت زمانه (۹۶۳ هجري تر ۱۰۱۴ هجري) ده.

۲. د بابر د زیږیدو میاشت او کال محرم ۸۸۸ هجري (فروري ۱۴۸۳ء) دي.

۳. ۹۱۰ هجري. وگورئ بابر نامه د کال ۹۱۰ هجري (۱۵۰۴ء) واقعات.

۴. د کتـاب عبـارت دا هسې دے "اکبـر بـادشـاه په وخت د کهتړو ډیر زوررور وۀ." کهتړ د پـنجاب مشهور قوم دے. د واه ضلع اټک سر محمد حیات خان مرحوم د سر سکندر حیات مـرحـوم پـلار او د کتـاب "حیات الفغاني" مؤلف هم له دغه قامه وۀ. په صوبه سرحد کښې هم کهتـړ شتـه. د پیښور ضلعې په پیښور تحصیل کښې یو کلے هم په دې نامه شته. پیښور ښار کښـې هـم د کهتـړو څـۀ لـږه ابادي شته دوي اکثر زرگري کوي خنې څۀ زمکې هم لري. او خپل قومیت کهتړ نیلاب ښیي.

۵. د نیـلاب ښـار خو اوس نشته البته د نیلاب تپه یا علاقه د خوړې، نیلاب نومې تپې یوه برخه ده چې څـۀ پـه پیښـور څۀ په کوهاټ کښې د چراټ د غرونو او نیلاب غاښې تر مینځه ده. د تپې قبلیزې (تولې پیښوری) برخې ته خوړه او نمرخاتیزې (جزوي کوهاټي) ته نیلاب وئیلے شـي. نیـلاب غاښے په لویدیز کښې د ژواکیو افریدیو له حدود شروع شوے خاتیز لورې ته تر اباسیـنـده تلے دے. دغه ځائے اټک ته نزدې دے. او غالباً د اوبو د رنګ یا نیلاب د غاښې یا تپې سـره د نسبـت لـه رویه اباسیند ته آب نیلاب هم وئیلې شوي دي. وثوق سره نۀ شي وئیل کیـدے چې نیـلاب ښـار چې ابـاسیـند ته نزدې وۀ چرې واقع وۀ کومې غاړې ته ئې وۀ. (ص ۲۲۴ نوټ ۳ هم ولولئ).

ص ۲۱۰

۱. یعني ښادمان مړ شو.

۲. د جهلم سیند. په گلشن روه کښې شامل انتخاب ص ۲۵ "آب بهست". له دې لوریه چې

سرے پنجاب ته خي نو چې له اباسينده پورې شي نو د پنجاب تر دې پينځو سيندونو به پرله پسې پورې ووځي. جهلم، چناب، راوي، بياس او ستلج. اکبر له هغه لوريه دې خوا راتلو ورومبے به په ستلج راتلو. افضل خان ما سوا د چناب او بهت د نورو سيندونو ذکر ضروري نۀ دے گنلے

۲. مشهور ځائے دے. له پيښوره يو سل ځلور ميله جنوب مشرق ته. اوس د پاکستان نوے دارالحکومت هم دغه ځائے جوړ شوے دے چې اسلام آباد بلل شي.

صــ ۲۱۲

. په گلشن روه کښې د شامل انتخاب (ص ۲۷) له رويه "راجه نني".

۲. د طبقات اکبري انتخاب دوه جلده. (د ايليټ او ډاوسن سلسله) جلد۲ ص ۱۳۷ راجه دهرم سنگهه.

۳. منتخب التواريخ (اردو ترجمه "ملا شيري".

. زين خان، بيربل او حکيم ابوالفتح په چکدره کښې چې د مردان شمال ته د سوات د سيند شمالي اړخ ته د ملاکنډ نه قطب لويديز ته ده سره يو ځائے شوي وو. بيربيل د زين خان چې يو تجربه کار سپاهي او قابل جرنيل وۀ د رائے په عکس بادشاهي فوځ سهيل ختيز لوري د کړاکړ په مخ روان کړ او بيا د کړاکړ سهيل لوري ته پرې پښتنو چپاؤ وکړ چې بيان ئې وشو.

۵. ن ب "نظر بے". (نظربے). ن ا "نظر بيگ" خو په مخ ن ا هم "نظر بے". معنوي لحاظ سره څۀ فرق نۀ لري.

۶. زما د وړاندې عبارت کښې ثواب.

۷. گونـدي کـانجـو وي. کـانجو او دمغار په سوات کښې د نائيکي خيلو يوسفزيو په علاقه کښې دي.

صــ ۲۱۳

. دغه واقعه د اکبر د جلوس په يو ديرشم کال شعبان ۹۹۴ هجري کښې شوې وه. بدايوني د دې وجه دا ليکي چې يوسف خان کشميري د راجه بهگونت داس (يا بهگوان داس) په قول قرار خان و اکبر ته وسپارلو. خو اکبر دې قيد کړو. راجه بهگوان داس له شرمه او غيرته چې لوظ ئې مات شۀ خان په جمدر وواهۀ (منتخب التواريخ اردو ترجمه ص ۵۲۶). خو هسې ليدۀ شي چې راجه د خودکشي له دې اقدامه مړ نۀ شو. ولې چې مرگ ئې تقريباً ځلور کاله پسته په ۹۹۸ هجري کښې په لاهور کښې واقع شو. (ايضاً ص ۵۳۷).

۲. ن ب "عنزار". گلشن روه (ص ۲۹) "او غتراد" الخ.

۳. ن ب "پیر روښان".
۴. ۱۰۰۹ هجري (۱۶۰۰ ء).
۵. ن ب "جرخني". گلشن روه (ص ۳۰) "بوچرخي". وگورئ توزک جهانگیري اردو ترجمه ص ۳۳۰.
۶. مهابت خان زمانه بیګ.

ص ۲۱۴

۱. توزک جهانګیري اردو ترجمه ص ۳۳۱، ۳۳۲ سید عزت خان.
۲. خوتره او لیوو غر یا لواغر د کوهاټ ضلعې په سابقه تیرې او حال کرک تحصیل کښې دي. د خوترې وادي د بهادر خیل او لواغر د غرونو تر مینځ پرته ده د خوترې سهیلي امتداد د تل وادي بلل شي.
۳. د شهباز خان پلار او د خوشحال بابا نیکهٔ.
۴. زما د ورانديې قلمي عبارت کښې ورومبے "ببر" او بیا "بیر" دے. گلشن روه ص ۳۲ ورومبے "پیر" او بیا "بیر د لواغر" الخ دے. ببر لکه چې په مخ به تاسو د کتاب ص ۲۲۳ و ص ۲۲۴ ـ ۲۲۶ وگورئ د ختکو یوه څانګه ده.

ص ۲۱۵

. خضر خان د ملک اکوړي د یوهٔ زوي نوم وهٔ. کهٔ هم هغه وي نو د یحیی خان ورور وهٔ.
۲. توزک جهانګیري اردو ترجمه ص ۲۱۹ تر ۲۲۱ او اقبال نامه جهانګیري ص ۵۳، ۵۴. دلته به دا عرض کول ضروري وي چې دې نه ورومبے کوم واقعات بیان شوي دي لکه د مهابت خان پښتانهٔ په فریب راپلل او وژل او د سنګ پارهٔ جنګ د جهانګیر د عهد د پینځلسم کال واقعات دي. د جهانګیر د جلوس کال ۱۰۱۴ هجري (۱۶۰۵ ء) دے. کهٔ ۱۰۱۴ هجري نه شمیر شروع کړو د جلوس پینځلسم کال به ۱۰۲۸ هجري کښې شروع کیږي خو د جهانګیر د جلوس پینځلسم کال د ربیع الثاني یا ربیع الاخر (دویمې خور) د ۱۵ تاریخ ۱۰۲۹ هجري نه بښیلے شوے دے (توزک جهانګیري اردو ترجمه ص ۲۰۳ اقباله نامه ص ۱۳۷). نو د جلوس پینځلسم کال به ۳۰ـ۱۰۲۹ هجري وي. راورټي په خپل کتاب "نوټس آن افغانستان" ص ۳۹۱ کښې د سنګ پارهٔ د جنګ کال ۱۰۲۹ هجري (۱۶۱۹ ء) [۱۰۲۹ هجري = ۸ دسمبر ۱۶۱۹ ء تر ۲۵ نومبر ۱۶۲۰ ء] یا اوائل ۱۰۳۰ هجري (۱۶۲۰ ء) [۱۰۳۰ هجري = ۲۶ نومبر ۱۶۲۰ ء تر ۱۰ نومبر ۱۶۲۱ ء] ښښیلے دے. خو د جلوس کال ئې اووم بیان کړے دے چې څرګنده غلطي ده. د جنګ حال په توزک

جهانګيري اردو ترجمه کښې (لکه چې په ص ۲۱۴ نوټ ۱ کښې) حواله ورکړے شوې ده. په ص ۱ ۳۳، ۳۳۲ د پښتخلسم کال په واقعاتو کښې بیان شوے دے.

۲ الف. د کابل په جنوب کښې یوه علاقه او خائے.

۳. توزک جهانګيري اردو ترجمه ص ۸۱۵، ۸۱۶، اقبال نامه جهانګيري ص ۲۴۹تر ۲۵۱.

۴. زما د وړاندې قلمي عبارت کښې "یلنګوش" او توزک جهانګيري اردو ترجمه کښې "پلنګهوش" لیکلے دے. خو اقبال نامه او ګلشن روه کښې صحیح "یلنګتوش" (یلنګتوش) ازبک لیکلے دے.

۵. د لهوګر علاقې په جنوبي برخه کښې د خروار نومے خائے نه خاتیز لورې ته په پکتیا علاقه کښې.

ص ۲۱۶

۱. قلمي عبارت "کتي" ګلشن روه "ګتي" اقبال نامه "یکےازاحدیان شمشیروگرزوانگشترو کارد ے کہ ازو یافتہ بودنزدظفرخان بردہ نمود۔ توره، ګرز، انګشتر یعني ګوته او چاړۀ. توزک اردو ترجمه تلوار، چهرې، انګوټهي یعنې توره، چاړۀ او انګوټهي یعنې ګوته. د احداد شجاعت، جرأت او عزم او استقلال بیان ته اړ نۀ دے. کۀ په دغو صفاتو کښې د خپل ترۀ او سخر جلال الدین نه زیات نه نو کم ترې هم هیڅ کله نۀ وۀ. او چې کوم ربط او ضبط ئې په خپله ډله کښې قائم کړے وۀ. بیان ئې تاسو له افضل خانه واورید.

۲. ګلشن روه "بنهر د پېښور" الخ. یعنې چې په پېښور کښې د لښکر خان نائب وۀ قتل ئې کړو.

۳. یعنې شهباز خان ئې خان یا سردار وۀ

۴. دا هم هغه شورش دے چې شیخ کمال الدین ئې روح روان وۀ او مفصل ذکر ئې په متن او نوټونو کښې وړومبے تیر دے.

۵. په دغه موضوع دې د تیرو صفحو نوټونو ته رجوع وشي.

۶. د منصب په حقله څخو مبالغه کړې شوے لیدۀ شي. نۀ خو په بادشاهنامه او نۀ په عمل صالح کښې د منصب دارانو په فهرست کښې د یوسف آفریدي یا هزار میر ورکزي نامه شته. نو کۀ منصب ورکړے شوے وي نو د پانصدي (پینځو سوؤ) نه به هم کم وۀ. یادو شوؤ کتابونو کښې د پانصدي درجې نه د کمو منصبدارانو نامې نشته.

ص ۲۱۷

. مهابت خان مرزا لهراسپ د مهابت خان زمانه بيگ زوی .

۲. ن ب "شرخبون". د عبارت مطلب دا دی چې هوني داخل په اولاد د سړبني دی چې (د سړبن پـه اولاد کښې) له اولاده د شرکبون دی . د سړبن دوه زامن شرکبون او خرشبون وو. نو ظاهره ده چې سړبن د شرکبون زوی نهٔ شي کيدی . کرلاڼ د اورمړ وصلي دی او اورمړ شرکبون، د سړبن د زوي له اولاده دی کهٔ بين القوسين عبارت حذف شي نو د غلط فهمی د پيدا کيدو سخت احتمال دی .

۳. ن ب "ورکزي".

۳ الف. راورټي "شجر".

ص ۲۱۸

. ن ب "حسيني". او يا ممکنه ده حسني وي.

۲. يا "ارنگ برنگ" د باجوړ بوخې دي. وګورئ ص ۲۰۴ نوټ ۱ و نوټ ۳.

۳. افضل خان د ککي شپږ زامن يادوي او د څلورو لقمان، اتمان، عثمان او خدران نامې اخلي. بيا وائي چې اتمان او عثمان له يوې موره او لقمان له بلې موره وهٔ. خو هم د يوهٔ پلار زامن وو. او خدران د دغو دريو وارو ترهٔ وهٔ. نو دغسې په بيان کښې اختلاف دی. په عکس د دې خوشحال بابا برهان او خدران ورونه يادوي. او لقمان، سليمان (په ځائي د عثمان) او اتمان د برهان زامن بيانوي. نو دغسې دا درې واړه د خدران وريرونه او هغه ئې ترهٔ شو. دستار نامه (پيښور چاپ ص ۱۷۶، ۱۷۷ او کابل چاپ ص ۸۴). د تاريخ مرصع د شجرې په حقله د بيانونو لانديني برخې د مقابلې وړ دي:

تاريخ مرصع	دستار نامه
"لقمان د برهان، برهان درې زويه لقمان چې خټک يادېږي، سليمان چې افريدي دی، اتمان چې اتمانخيل دی. خدران برهان سره ورونه دي. افريدي، خټک اتمان خيل دا سره برهانخيل دي وته بهرام براهيم هم وائي په اولاد کښې د کودي ورځي. اما په اصل کښې برهان خيل دي. برهان او خدران دواړه سره په کودي ورځي.	لقمان د ککي، ککی د کرلاڼ، کرلاڼ زوی د هوني دی .... د کرلاڼ دوه زامن وو. يو کودی دويم ککی. برهان او ورکزی دواړه زامن د کودي دي. دلازاک او ورکزی دواړه په اولاد کښې د کودي ورځي.

کرلاڼ

ککی کودی

لقمان برهان ورکزی

(دلازاک هم د کودي په اولاد کښې)

برهان

لقمان اتمان سليمان

برهانخيل :خټک آفريدي اتمانخيل.

تـر لـقـمـان پورې خو هيڅ اختلاف نشته خو ورپسې اهم فرق ښكاري. د دستارنامې او تاريخ مـرصـع دواړو د بيـانـونو له رويه برهان په كودي ورځي. يعني د هغهٔ په اولاد كښې شامل دے خو د تاريخ مرصع د بيان له رويه لقمان د برهان زوے نه بلكې د هغهٔ د تړهٔ ككي زوے دے او د دستـار نـامې لـه رويه لقمان د برهان زوے دے. او برهان په كودي ورځي. دغه شان كودے د خـتـكـو هـم نيـكهٔ شي. علاوه له دې عام طور سره په شجرو كښې (لكه چې تاريخ مرصع هم وائـي) عثـمـان د افـريدو نيكهٔ ياد شوے دے. خو په دستار نامه كښې سليمان ته چې د وزيرو، محسودو نيكهٔ دے، افريدے وئيلې شوي دي.

صـ ۲۱۹

"د شهباز خان اجل" له لفظونو د زر (۱۰۰۰) عدد راوځي.

۲. گلشن روه ايضاً. ن ب "وائي".

صـ ۲۲۰

"خير عالمياني" = ۱۰۲۲.

۲. ن ا و ن د مشـكـوك "بهار اهل" يا "بهار ايل". ن ب و ن ج "بهار ايل". بهار اهل شگفت = ۱۰۴۴، "بهـار ايـل شـگـفـت" = ۱۰۴۹. راورتـي د سيـلـكشـنز فرام دي پوئټري آو دي افغانز". (د پښتو له شعره انتخاب) په صفحه ۲۴۹، ۲۵۰ كښې په اشرف خان چې كوم نوټ ليـكـلـے دے پـه هـغـه كښې ئې د اشرف خان د زيږون كال ۱۰۴۴ هجري (۱۶۳۴ ء) ليكلے دے. نو گويا راورټي هم په خپله نسخه كښې "بهار اهل شگفت" لوستلے دے. د تركي ايل او د عربي اهل تقريباً يوه معنىٰ ده. ايل، اولس، قبيله، كورنى، خاندان وغيره خو په اعدادو كښې ئې د پيـنـځـو فرق دے. د "ه" پينځهٔ او د "ي" لس عدده دي. په ن د كښې د وړومبي شعر په وړومبـي مـصـرع كښـې د "زا و يـائـے" پـه ځائـے "زا و بائـے" هم لوستل كيدے شي. خو "زاو يـائـے" يعنې وړومبے شكل قياس ته نزدې. كهٔ دويم شكل وے يعنې ز سره ب نو هر كله چې د د يـو يـا د بل حرف تقديم او تاخير په وزن كښې څهٔ اړيكه نهٔ پيښوله نو بايد چې د حروف ابجد تـقدم او تاخر سره سم "با و زائـے" وے. د "ز" مقدم كول بې موجبه ښكاري. وړومبي شكل نه ۷+ ۱۰ = ۱۷ او دويـم نـه ۷ + ۲ = ۹ جوړيـږي. ن ب مـصـرع داسـي لري. "بروز يائے مه روزه" الـخ. يـعـنـې د روژې د ميـاشت په "ي" يعني لسمه ورځ. چې تر څو د سن تعلق دے نو ۱۰۴۴ هـجـري لـه دې قـبـلـه قياس ته نزدې دے چې ۹ او ۱۷ رمضان په ۱۰۴۴ هجري كښې دواړه پـه مـارچ ۱۶۳۵ ء كښـې راځـي. او خـوشـحال بابا وائي چې د گلونو د سپرلې كيدو وخـت وهٔ. كـهٔ مـونـږ ۱۰۴۹ هـجـري فرض كړو نو ۹، او ۱۷ رمضان په ترتيب په شروع او

وسط د جنورى ۱۶۴۰ ء کښې راځي. او دا د سختې ځلې وخت دے.
۳. "غازي دل" = ۱۰۵۲ هـ.
۴. "بخت بابا" = ۱۰۵۳ هـ.
۵. ج ۳ + ۱ ۱ محرم = ۴ محرم. "نظام کل وجود" ۱۰۶۰ هـ.
۶. "گل باغ زاد آزاد خان". "گل باغ" = ۱۰۵۳ + زاد ۱۲ = ۱۰۶۵

يحيىٰ خان د نظر د وړاندې ترتيب له رويه پينځم او شهباز خان شپږم دے. آزاد خان څوک دے دلته د خوشحال بابا د اولاد په فهرست کښې ئې افضل خان په صراحت نوم نهٔ دے اخستے. خو په مخ لکه چې تاسو به وګورئ چې د خپل پلار اشرف خان د مرګ ذکر کوي نو وائي چې "زمونږ ترهٔ آزاد خان ئې دا تاريخ وئيلے دے." دغه تاريخ به تاسو په خپل ځائے ولولئ. بيا شهباز خان په يوولسم نمبر بيان شوے دے نو ګوندې دغه تاريخ په پينځم او شپږم نمبر د يحيىٰ خان چې جتړ ئې د مينې نوم وهٔ. (وګورئ زما کتاب "خوشحال خان ختک" اردو ص ۱۲۳ او حواشي) او د آزاد خان وي. والله اعلم بالصواب.

۷. ۱۰، او يا "با" = ۲
۸. ".عابد خانے ولي رسيد" = ۱۰۵۸.
۹. ع ب د ا ل ق ا د ر خ ا ن = عبدالقادر خان = ۱۰۶۳.

ص ۲۲۱

. سيزدهم (ديارلسم) صفر "گل رياض" = ۱۰۶۱.
۲. حمل (۲۱ مارچ) ک = ۲۰، ج = ۳ يعني ۲۳ حمل ۱۳ اپريل غ ۱۰۰۰ + س ۶۰ + ب ۲ = ۱۰۶۲. جمادي الاول ۱۰۶۲ هـ. (۱۳ اپريل ۱۶۵۲ ء)
۳. ن ا "پشهير" ن ب به شير" يعني ماه اسد.
۴. ع = ۷۰، غ = ۱۰۰۰.
۵. از جمل يعني د ابجدو له جملو يا حروفو. له دېو جملو ع او غ، وګورئ نوټ څلورم.
۶. "بفرخنده فال زاد" (لکه چې اصل کښې دے) = ۱۰۶۴ خو کهٔ "به" د "فرخنده" نه بيل وليکل شي نو ۱۰۶۹ به شي.
۷. يعني د عادل خان نه ۱۲ ورځې پس جعفر خان پيدا شو.
۸. ۵۸ + ۷ = ۶۵ په دې حساب د خوشحال بابا ۶۵ زامن پيدا شوي وو.

ص ۲۲۳

۱. حضرت شيخ رحمکار چې اسم ګرامي ئې کستير ګل وهٔ رحمة الله عليه د پښتونخوا له

عظیمو او مشهورو اولیائے کرامو څخه دي. د دوي او د دوي د والد صاحب شیخ بهادر دین رحمة الله علیه حالات او مناقب په مخ زمونږ په کتاب کښې په تفصیل بیان شوي دي. د حضرت شیخ رحمکار رحمة الله علیه په باب چې تر څو د شیخ د نسب تعلق دے د تاریخ څخه طالبان دا خیال لري چې خټک وو او لکه چې افضل خان لیکي په خټکو کښې یاسین خیل وۀ. او څخه ئې سید ګڼي. والله اعلم بالصواب. په هر حال د حضرت شیخ فضیلت او جلالت شان په فحوا د ارشاد باري "اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَاللّٰهِ اَتْقٰكُمْ" مسلم دے. (رحمة الله علیه واسعة.)

۲. وګورئ ص ۲۱۴ نوټ ۳.

۳. دا خټک مندهن دي د څخني مندڼ سره چې د یوسفزي ترېور او عام طور سره هم په یوسفزي بلل شي نۀ مخلوطیږي.

۴. دا خټک مروت دي چې څو ځل یاد شوي دي د بټن د ځانګې مشهوري مروت قبیلې سره نۀ مخلوطیږي.

ص ۲۲۴

. له دې قبله د څیني (چې خالص تري خټک دے) او د سیني فرق د نظر د وړاندې ساتلے بویه.

۲. شوال د کوه سلیمان شمال مغربي سلسلې ته وائي. د شوال غرۀ سره یوه وادي هم شته چې په اوږدۀ به شپاړس او په پسارۀ به اتۀ میله وي. د بنو نه جنوب مغرب رویه.

۳. دغه ټول ځایونه او علاقې له لواغر تر نیلابه د کوهاټ په ضلع کښې دي. د نیلاب ټپه د خوړې په نامه هم بلل شي. شرقي نیلاب او غربي برخه خوړه یادیږي. (ص ۱۰۹ نوټ ۵) نیلاب جزوي په کوهاټ ضلع کښې ده خو د خوړې ټوله برخه په پېښور ضلع کښې ده. (اګر که له طبعي لحاظه له وادئ پېښاور بهر ده. او سهیلي برخه ئې د کوهاټ په ضلع کښې ده.

۴. دغه علاقه چې د سونیالې درې په نامه هم یاده شوې ده هم د خوړې نیلاب ټپې یوه حصه ده.

ص ۲۲۵

۱. له دې جوته شوه چې د خوشحال بابا غور نیکۀ ملک اکوړ خان ځائي د کربوغې وۀ چې د خټکو د مشهور کلي تېري نه شمال مغرب ته ده. د کربوغې خلق هم خټک دي. خو د کلے د کوهاټ ضلعې د بنګښنو په تحصیل هنګو کښې شامل کړے شوے دے. د هنګو قصبې نه جنوب مغرب ته دے.

۲. تحصیل هنګو (ضلع کوهاټ) کښې د بنګښو يو کلے چې د خپلو ډېرو غټو او اوږدو موليو دپاره مشهور دے. د هنګو نه جنوب مغرب ته او د ټل نه (ورته مقابلةً زيات نزدې) شمال مشرق ته واقع دے.
۳. چې عام طور سره کالا باغ بالهٔ شي. هسې خو کالا باغ د پنجاب د ميانوالي ضلعې په عيسیٰ خيل تحصيل کښې واقع دے. خو هر کله چې د اباسين په بنې غاړه پروت دے نو طبعي لحاظ سره د صوبه سرحد په زمکه کښې دے. په ۱۹۰۱ء کښې چې د پنجاب او صوبه سرحد تقسيم کيدو نو هغه وخت عيسیٰ خيل د بنو تحصيل وۀ کالا باغ د کوهاټ نه جنوب مشرق او د کوهاټ د شکر درې (ساغرې خټک) نه جنوب څخو مشرق ته او د کوهاټ د کرک (بارک خټک) او لتمر (بارک خټک) نه مشرق ته څۀ لږ جنوب رويه پروت دے.
۴. ن ب "..... چا څو د شاه بيګ خان کور ته حاضر شۀ." ګلشن روه "چا چو په پېښور کښې ووشه. بيګ خان کور ته حاضر شۀ."

ص ۲۲۶

۱ ګلشن روه "مړ ولې کړم".
۲. ۹۸۹ هجري (۱۵۸۱ء).
۳. وګورئ ۲۰۸ نوټ ۵.
۴، ۴ الف. د لکی قصبه د دغه نوم تحصيل کښې د بنو په ضلع کښې واقع ده. عيسیٰ خيل چې اوس د پنجاب د ميانوالي ضلعې تحصيل دے. وړومبے د بنو ضلعې تحصيل وۀ. وګورئ ص۲۲۵ نوټ ۳.
۵. زما د وړاندې عبارت جانګړ- جيناکړ يا جانه کړ خو د پېښور نه جنوب مشرق ته د حسن خيل آدم خيلو افريديو په علاقه کښې له چراټه جنوب مغرب ته مشهور ځائے دے. پلاؤډن په کليد افغاني کښې شامل د تاريخ مرصع په ترجمه کښې وائي (چې هغۀ په انګريزۍ کښې کړې ده) په دغه ځائے خپل نوټ کښې وائي چې جانګړ د جلاله سر قطب ته دے. لکه چې د عبارت نه ښکاره ده غابنے دے. جلاله سر د خټکو په کوهستان کښې چراټ ته نزدې ترې جنوب څۀ ډېره لږه مغرب رويه د تورلو نه وچته څوکه ده. خو په عبارت کښې د نظر د لاندې ځائے ته د افريدي سرحد وئيلي شوي دي. نو غالب قياس په هم دا وي چې جيناکُر ترې مراد دے. ما د پلاؤډن بيان کړے جانګړ معلوم نۀ کړے شو.
۶. يا "امندي" يا "امندزي" يا "امن زي" (وګورئ ص۲۲۳)
۷. ن ۵ "بير".

۸. ن ٥ "ادریس خیلو".

۹. د یوسف مندړ رخړ سره دي نهٔ مخلوطیږي.

. ن ٥ "غوري زئ".

۱۱. یا ډُرملک، ډَرملک.

صـ ۲۲۷

اصل عبارت د ن ۱ "یو تربله جنګ ډیر جدال کړے دے" ن ٥ "... قتال جدال" الخ.

۲. ن ٥ "د پـتیـه خیل د بولاق سره چې بدي وشوه په هغه اوان د سرائ کوټ نهٔ وهٔ. خاربندي ئې کړې وه. ملک اکو او یوسف خان له خوانانو سره" الخ.

۳. مط ن ٥. ن ۱ "اوان".

۴. مـط ن ٥. ن ۱ "..... معاف کړ یوسف زي ئې" الخ. له یوسفزیه ئې راوستل یعني نازو خان او د هغهٔ ملګري چې یوسفزیو ته تللي وو رائې وستل.

٥. خبره متضاده غوندې ده چې د سرائ کوټ ئې محاصره کړ او هغه وخت د سرائ کوټ نهٔ وهٔ خـاربـندي ئې کړې وه. د وینا خبره دا ده چې راغلل او سرائ ئې چې هغه وخت ئې صرف خاربندي شوې وه ګیر کړو.

۶، ۶ الف. دغـه وخـت بـه ئـې خـټ کـلي ته نوښار وئیل چې اوسني نوښار چاوني ته لنډ ترې قبـلـې تـه پـه لږه فاصله د لنډي سیند په ښی غاړه پروت دے. او بلې غاړې ته ترې قطب شخو خاتیز ته (له خټ کلي) نوے نوښار واقع دے. نوښار چاوني هم د سیند په ښی غاړه واقع ده. د وتـرو کـلـے د سرائ اکوړه نه لویدیز او د نوښار چاوني نه خاتیز د دوارو تقریباً مینځ و میانه د سړک جنـوبـي غاړې ته بالکل نزدې پروت دے. د سرائ او د نوښار چاوني تر مینځه تقریباً اتهٔ میله مزل دے.

صـ ۲۲۸

. دلتـه لـکـه باید چې جوته وي آفریدے د قبیلې نه بلکې د سړي نوم دے. چې خورم خټک وهٔ.

۲. د مردانٔ ضلعې په صوابی تحصیل کښې له صوابی تقریباً پینځهٔ شپږ میله سهیل خاتیز ته.

۳. جهـانـګـیـرے (دوه کـلـي) له سرائ اکوړه تقریباً پینځهٔ میله سهیل خاتیز ته دے. د لنډي په کینـه غاړه د مردان ضلعې په صوابی تحصیل کښې دے. خټک او نور خلق هم پکښې آباد دي.

۴. دا د مؤلف نـاپـوهـي ده. جناب رسالت مآب ﷺ هیڅکله کفارو ته د جنګ میدان نهٔ وا

پـريـښـے. حتيٰ چې د احد په جنګ کښې سره د کفارو د وختي غلبې او د آنحضرت ﷺ د خلورو مبارکو غاښونو د شهادت او د وجود باجود ته د زخم رسيدلو او د ډيرو صحابه کرامو د شهادت هغه مبارک سراپا وقار او مجسم استقلال سره د خپل مکمل شان جمالي او جلالي پـه خپل ځائے قائم او د مجاهدينو او فداکارانو هدايت او قيادت کونکي مصروف جهاد وو او اخر ميدان هم کفارو پريښود. صلي الله عليٰ محمد و عليٰ آلهٖ و اصحابهٖ وسلم.

۵. مـانيـری د مردان ضلعې په صوابی تحصيل کښې صوابی قصبې ته بالکل نزدې ترې قطب رويه واقع ده. د صوابی قصبه زړه آبادي او هم د مانيری په رقبه کښې ده.

ص ۲۳۰

. دغـه جـنـګ د مـايـارو اکـاخيـلـو (کـمال زو منډنو) سره شوے وۀ. د مايارو کلے د مردان ضـلـعې مـردان تحصيل کښې د هوتي مردان (چې اوس تقريباً ګډې قصبې دي) نه خلور ميله سهيـل څـخـو خاتيز ته دے. له سرائ اکوړه قطب څخو لويديز ته تقريباً پينځلس شپاړس ميله په کچه لار.

۲. آدم خـان لـکـه چـې بايد لوستونکو ياد ساتلے وي د يحييٰ خان زوے او د شهباز خان ورور وۀ.

۳. "پے کـردن" پـه فـارسی کښې د پلې پريکولو او بيکاره کولو په معنيٰ راځي. پوبه کيدل، مـنـډه وهـل تـرې مـراد نـۀ دي. لګه چې کليد الفغاني کښې شامل د تاريخ مرصع د انتخاب په انـګـريـزی کښـې تـرجـمـه کـونـکـي پلاؤډن خيال کړے دے. لېږ په مخ به ښکاره شي چې د خـوشـحـال بـابـا اس ګـډ شـوے وۀ. نو د "پے شۀ" نه مراد دا دي چې پښه ئې ژوبله، خرابه يا بيکاره شوه.

۴. ګلشن روه "مرزا علي".

ص ۲۳۱

۱. مط "ګلشن روه". ن ۱ "چې دارو ئې هم مشکل دي."

۲. د خـوشـحـال بـابـا د فـارسـي قطعه تاريخ نه په برخيرن نظر اندازه کيږي چې شهباز خان د جـمـعـې (ادينه) په ورځ د روژې په وروستی ورځ ژوبل شوے او د زيارت په ورځ د شوال په وړومبې تـاريـخ وفـات شـوے وۀ. خو کۀ د روژې وروستی ورځ جمعه وه نو د شوال وړومبی ورځ زيـارت نـۀ شـي کـيـدے. او د تاريخ مرصع د عبارت له رويه "پس له پينځو ورځو چې په اخـر د رمـضـان زخـمـي شـوے وۀ پـه پـيـنځم د شوال له دار فنا و دار بقا ته ئې کوچ وکړ." په ګـلـشـن روه کښـي درج د تـاريـخ مـرصـع عـبـارت کښـې "پـه پينځم د شوال" پـه ځائے "پـه

پنجشنبې د شوال" الفاظ دي. په هر حال د خوشحال بابا له فارسي قطعې هم دومره ښکاره ده چې شهباز خان د جمعې په ورځ په روژه کښې زخمي شوے وۀ او د زيارت په ورځ په شوال (د ووړوکي اختر مياشت) کښې وفات شوے وۀ. په ۱۰۵۰ هجري کښې د شوال په مياشت کښې زيارت (پنجشنبه) په ۵، ۱۲، ۱۹ او ۲۶ تاريخ راغلے وۀ. د شوال د وړومبي زيارت (۵ تاريخ) نه اګاهو جمعه به د روژې په ۲۹ تاريخ او کۀ مياشت د ۲۹ ورځو وه نو په ۲۸ تاريخ به وي نو د "روز ادينه آخر رمضان" نه به "روز آدينه اخر يا آخرين رمضان" اعني د روژې د مياشتې وروستۍ جمعه او له "روز پنجشنبه اول شوال" نه به "روز پنجشنبه اول، اولين يا نخستين شوال". اعني د ووړوکي اختر د مياشتې وړومبے زيارت مراد وي. په دغو دواړو مصرعو کښې به لګ اضافت فرض کړو د افضل خان په عبارت کښې به هم "په اخر د رمضان نه اواخر د رمضان مراد اخلو. نو د دې بحث له رويه شهباز خان په ۵ شوال ۱۰۵۰ هجري (۱۸ جنوري ۱۶۴۱ء) وفات او په ۱۲ جنوري (۲۸ يا ۲۹ رمضان) ژوبل شوے وۀ. والله اعلم بالصواب.

۳. دلته په اصل عبارت کښې هم د "اکازيو" په ځائے "اکاخيلو" دے.

۴. ن ب "يو کسبي سړے". ګلشن روه کښې "يو بسے مطرب"

۵. جګت سنګهه.

۶ ګلشن روه "ګير شوے دے". لکه چې بايد ښاغلو لوستونکو ته ياد وي د جګتا له مهمه مراد د راجه جګت سنګهه برخلاف لوځ کشي ده. چې په نتيجه کښې ئې بادشاهي فوځونو د راجه جګت سنګهه کوټونه مؤ، نور پور او تارا ګړه واخستل او تفصيل ئې پخوا د نواب بهادر خان په حال کښې تير شوے دے.

ص ۲۳۲

۱. مط ديوان. ن ا "دا زه" دغه مصرع بل شعر سره متعلقه ده. يعني د څاريارانو (حضرت ابوبکر صديق، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان غني او حضرت علي المرتضي رضي الله تعالیٰ عنهم څلور يارانو سره څلور واړه مذهبه هم سم منم. لکه چې څلور واړه خلفا برحق او د احترام وړ ګڼم نو دغسې څلور واړه امامان (حضرت ابوحنيفه، حضرت مالک، حضرت شافعي او حضرت احمد بن حنبل (رحمة الله عليهم) او مذهبونه ئې هم حق ګڼم.

۲. ديوان "داستان".

۲ الف. ن ب "صبا".

۳. ديوان "بيان".

۴. دا د خوشحال بابا د وروميي وادهٔ حال دے چي په اواخر ۱۰۴۰ هجري (جون جولائي ۱۶۳۱ ء) کښې شوے وهٔ.

ص ۲۳۰

. مط ن ب "کظيفې". ن ا "لطفے". کظفه، کظيفه، يا قذيفه د شهباز خان مور او د خوشحال بابا نيا وه. وګورئ ص ۲۱۹.

۲. اصل عبارت "بي بي يانه".

۳. ن ا "پلار ئې سم تولد الف هجري شوے وهٔ". ن ه "له پلار ئې هم پر پوره الف هجري شوے وهٔ.".

۴. مط ن ه او دستار نامه پېښور چاپ ص ۹۷ کابل چاپ ص ۴۶. ن ا "هاتم".

۵. دغه اعني څلورم قران کښې د مايارو يا د بلړو وروميي جنګ ته اشاره شوې ده چې شهباز خان پکښې ژوبل او پينځهٔ ورځې پسته وفات شو. هيتم، هاتم، يا حاتم ګوندي د مايارو کلي او اکاخيلو د خان نوم وي.

۶. مط ن ب و ن ه. ن ا "محمد حسن".

۷. مط ن ب و ن ه. ن ا "ابيده خان".

۸. ن ا "جيني" يا "چيني" مشکوک. بيا په ص ۲۴۰ هم دغه شان خو هم په ص ۲۴۰ لږ وروميے جلبي او په مخ بيا جلبي شو ځله. ن ب دلته او کوم ځائے چي د ن ا په ص ۲۴۰ "جلبي" ده دواړه ځايه "جلسي" خو بيا هم په مخ هم "جلبی" ن ه متواتر هم "جلبي". جلبي او جلسي دواړه د مردان ضلعې صوابي تحصيل کښې د ختکو کلي دي. د صوابي قصبې نه د تحصيل مشهور تاريخي کلے لاهور تقريباً نهٔ ميله سهيل خاتيز ته دے. له لاهوره تقريباً دوه ميله نمرخاتهٔ ته جلسي او له هغې تقريباً څلور ميله نمرخاتهٔ ته جلبي ده.

۹. يعني د بهاکو خان.

۱۰، ۱۰ الف. خير آباد د لنډي او اباسين ګډون ځائے ته نزدي له اټکه (پنجاب) په لږه فاصله قبلې قطب ته (د صوبه سرحد د پېښور ضلعې د نوښار تحصيل په حدود کښې) پروت دے. بيا تري ځخو مغرب ته نرۍ هم ورګه لنډه د لنډي او باچاهي لاري دواړو بنې (د پېښور له لوري) اړخ ته ځخو وريشته پرته ده.

۱۱. ماه آبان. (۲۳ اکتوبر تا ۲۲ نومبر.)

ص ۲۳۴

۱. ن ب "ترخنده".

۱ الف. مط ن ه. ن ا "ابراهیم". ن ب "سعادت او بهرام هم خلاص شول". الفاظ نهٔ لري.
۲. مط ن ب و ن ه. ن ا "قدح خان".
۳. ن ا "له تختې جدا کړم.".
۴. مط ن ه. ن ا "..... هغه وخت پنخوس کاله چې به راغلهٔ شهید به شول" عبارت ناقص دے.
۵. سید میر خوافي مخاطب په امیر خان د اورنگزیب د اتالیق شیخ میر خوافي کشر ورور.
۶. مرزا عبدالرحیم په بهینور کښې د صوبه دار سید امیر خان خوافي نائب وهٔ.
۷. ن ه "بد مغزه".
۸. مط ن ب و ن ه. ن ا "بادشاه ئې د راهداری د باج هم منع کړ.

صـ ۲۳۵

۱. "پنهم" یعني پټ، پوشیده.
۲. ن ه "ترلے وهٔ". ن ا "د دهٔ د قید تېتر ئې سوړ کړے وهٔ". یرغ کول یا تړل، مصلحت، بند بنا، بند پیوند کول. یرغ ترکي لفظ دے.
د قران د بیان له شروعه تر دې ځایه (او په مخ هم) د ن ا ټول عبارت له غلطو پُر دے.
د نورو نسخو سره د مقابلې نه پس سم کړ شو. ورسره مو د ن ا د عبارت د غلطو څو نمونې هم وښئیلے
۳. اورنگ زیب د خپل عهد په دویم کال (رمضان ۱۰۶۹ هجري) کښې راغلے او نورو اجناسو د باج او د راهداری د محصول د معافی حکم کړے وهٔ. چې اثر ئې د زمیندارانو او جاگیردارانو په آمدن هم پریوتل ضروري وو. (د مفصل بیان او بحث دپاره وګورئ د راقم انګریزي کتاب "آن اے فارین ایپروچ ټو خوشحال" باب۴ خصوصاً ص ۳۶ تر ۴۳) د خوشحال بابا کورنی د ملک اکوړي د وخته راهسې د مال مویشي وغیره په درآمد او برآمد محصول وصولولو خو د دې خبرې هیڅ شهادت نشته چې خوشحال بابا د نوي قانون یعنې د غلې د باج او راهداری د محصول وصولولو د ممانعت د احکامو څهٔ مخالفت کړے یا ئې د نفاذ په لاره کښې څهٔ اړوکو پیدا کولو کوشش کړے وهٔ. امیر خان په مجمله کښې خوشحال بابا ووهلو.
۴. ن ا "... قتل شوے وهٔ ورور خدایار ئې ور وبالهٔ". شهداد د الوکي ورور وهٔ. خدایار د خلیلو ارباب وهٔ چې په دغه سازش کښې د صوبه دار سره شریک وهٔ. نهٔ شو وئیلے چې الوکے او شهداد خټک او کهٔ مندڼ رڅړ وو.
۵. مط ن ه. ن ا "حسد".

۲. د مومندو ارباب.

۷. ن ا "بادشاه امیران وبلل. امیر خان ووي د بل صوبه دار فکره کوه". عبارت دغه رنگ یو خو بې ربطه دے او بله دا چې د امیر خان دغه شان وینا کول د گستاخی او بې ادبی رنگ لري چې ډیر غیر اغلب دي. کۀ عبارت چرې داسې وے نو خاتمے به ئې لرلو. "بادشاه امیران وبلل، امیرانو ووې چې د بل صوبه دار فکر کوه". کۀ نورو امیرانو دا وئیلے وے نو یوه مشوره به وه خو د سید امیر خان خوافې له لوریه خو په دغه شان وینا کول بې له غوریږه بل هیڅ نۀ شي کیدے.

۷ الف. مط ن ٥. ن ا "بدان بند کر". گوندې ناقل د آبادانه په ځائے "بدان بند" لوستے وي.

۸. مط ن ٥. ن ا "څوکي یا څوکي".

۹. حمزه خان (یا لکه چې همزه خان هم لیکلے شوے دے) د ملو خان ولد اسماعیل خان زوے او په ختنه بائیزے یوسفزے وۀ. او د خوشحال بابا د یوې بي بي (د صدر خان د مور) ورور وۀ.

۱۰. بائیزې او رانیزي په گډه اکوزي بلل شي.

۱۱. مط ن ٥. ن ا "مانیري".

۱۲. مط ن ٥. ن ا "د خان علیین مکان د زامنو دست گیري کاتلنگ لره بوتلۀ". سیکری د بائیزو نومې تپه تحصیل او ضلع مردان کښې د جمال گرۍ او کاتلنگ تر مینځه د مردان له ښاره تقریباً یوولس میله قطب لوري ته پرته ده.

۱۳. مط ن ٥. ن ا "بادشاه د دې قوم راغے".

صـ ۲۳۶

۱. دغه قران د زمانې په لحاظ د ځلورم قران چې په کال ۱۰۵۰ هجري کښې وۀ نه پس بیانیدل پکار وو.

۲. اکثر کۀ د راجه جگت سنگهه آثار او اقدامات خو به ورومبے بنکاره شوي وو خو د هغۀ خلاف مهم د فوځونو روانگی سره په ۱۷ جمادي الاول ۱۰۵۱ هجري (اواخر اگست ۱۶۴۱ ء) کښې شروع شوے وۀ. او د تارا گرهـ د تسخیر نه پس په ۱۹ ذوالحجه ۱۰۵۱ هجري راجه جگت سنگهه د اطاعت دپاره بادشاهزاده مراد بخش لره راغے او قلاګانې ئې ونړولے شوے. (د نورو تفصیلاتو دپاره وگورۍ ص ۱۷۵ او متعلق نوټونه).

۳. ن ب "تر کنده".

۴. "میري او ملخ" یعنې دښمن په ډیر لوے تعداد کښې راغے.

ص ۲۳۷

. ن ٥ "د یوسفزیو دپاره له مغله سره ډیر جنګونه کړي دي". باید داسې وي " له یوسفزیو ئي دپاره د مغل" الخ. یا "د یوسفزیو سره ئي دپاره د مغل" الخ).

۱ الف. ن ٥ "پـه شلم جمادي الثاني ۱۰۵۰ هجري" الخ. ن ب سنه ایضاً. په قندهار دغه حمله پـه ۱۰ ذوالحجه ۱۰۵۸ هجري (اواخر دسمبر ۱۶۴۸ ء) کښې شوې وه. او خبر ئي لاهور ته پـه ۱۲ مـحرم ۱۰۵۹ هجري (اواخر جنوري ۱۶۴۹ ء) رارسیدلے وۀ. وګورئ د نواب بهادر خان حالات.

۲. مط ن ٥. ن ۱ "د دارا شکوه شهرت وۀ په وسیله" الخ.

۳. اصل عبارت "بهاګو خان".

ص ۲۳۸

. ن ٥ "سره ختهک یُو دوي جدا دي".

۲. مط ن ٥ . ن ۱ "کشور بیګ".

۳. لـنـډي خـانـه (چـې پـه زړو آثـارو کښې د "غریب خانه" په نامه یاده شوې ده) د لواړګي یا لـنـډي کوتل شمال مغرب ته تقریباً د څلورو پینځو میلو په مسافت یو منزل او د خیبر انتهائي حد دے.

۴. ن ۱ "لازم شـۀ". ن ٥ "لازمي وو". ډکه د لنډي خانې نه شمال څخو مغرب ته په لږ مسافت د افغانستان د مومندو په علاقه کښې ده.

ص ۲۳۹

۱، ۱ الف. یعني لنډي خانې. اصل عبارت غرپنجانه "غر پنجاني" (غریب خانه، غریب خانې)

۲. مط ن ۱ و ن ب. ن ٥ "میر یحیي" فوځدار لکه د میر بخشي پخپله یوه عهده ده نو بنائي چې د عهـده دار ذکـر سـره د هغۀ نوم وي نۀ چې بله عهده نو له دې قبله خو د ن ٥ د عبارت صحت قیاس تـه زیـات نـزدې دے خـو ګـوندې په دغه موقع دواړه عهدې هم یوۀ سړي درلے. یا نامه ورلـره مـور پـلار دغـه ایښـے وه. خـو وګـورئ ص ۱ ۲۴ "مـیـر یـحـیـیٰ ئي " الخ. والله اعلم بالصواب.

۳. اصل " نظر محمد خان".

۴. دلته "ندا" (نذر).

ص ۲۴۰

۱، ۲. ډکـه لـه میـچـنـي لوېدیز طرف ته او د کابل د سیند په غاړه په بنې غاړه پرته ده. ډکه د

افغانستان د مومندو (ص ۲۳۸ نوټ ۱) او میچنی د پاکستاني قبائلي مومندو په علاقه کښې ده.

۳. دغه عبارت له "جاله تیاره وه". تر "مشغول شول". د ن ب مطابق ولیکلے شو.

۳ الف. د پېښور نـه شـمال مشـرق تـه د مهمـنـدزو پښتنو تپه د موجوده پېښور ضلعې د چارسـدې تـحصیـل مشـرقي برخه. مغربي برخه ئې دوآبه ده چې گگیاني پښتانهٔ پکښې اباد دي.

۴. مط ن ه یعنې کوشش. ن ا "شور".

۵. اگره د مهمندزو کلے دے. په چارسده تحصیل کښې د چارسدې د قصبې نه په لړه فاصله جنوب مغرب ته د سردریاب په بنې غاړه واقع دے.

۶. ن ب "د اگرې کلي ته سرې ورغلهٔ" ن ه "د اگرې و کلي ته سرے ورستاوهٔ".

۷. د اشنغر مشهور کلے چې چارسدې سره جنخت جنوب رویه پروت دے. اگره د دغه کلي بانډه ده.

۸. ن ه "... د پرانگ د کلي په گودر ئې جاله وویسته. سرودیان ئې په کلي کښې طلب کړل ولې بیاموندل نهٔ شول.".

۹. ن ا "... پورې لوړې" الخ. ن ب "د نوښار په گودر پورې لورې ته وویسته".

۹ الف. ن ب "نمونځونه ئې په جاله کښې د صباح وکړل".

. ن ا "وخت".

۱۱. ن ب و ن ه "د دویه د خیریت خبر ئې کورونو ته ورساوهٔ".

ص ۲۴۱

۱. مط ن ب و ن ه. ن ا "..... اورهٔ یو پسه د هر یو سرې". الخ.

۲. مط ن ب و ن ه. ن ا "ماشي مه روړي".

۳. د مردان صوابی تـحصیل کښې له صوابی سهیل لویدیز ته د اباسین بنې غاړې ته نزدې دے. د جلبی او تور ډهیر (تـحصیـل صـوابی) سهیـل لړ کي خاتیز د جهانگیري (تحصیل صوابی) خاتیز قطب او سرائ اکوړه (تحصیل نوښار ضلع پېښور) جنوب مشرق ته. دا ټول کلي سره نزدې دي. صوابی څهٔ لړه لرې ده.

۴. مط ن ب و ن ه. ن ا "د دوي پلار په سر دي ولاړ". (د دوي په لاره پس روئ لاړ.)

۵. مط ن ه. ن ا "خیله".

۶. د اټک (کیمبل پور) په ضلع کښې د چچ د تپې یو کلے چې د اټک نه د یو څو میلو په

فاصله شمال مشرق ته پروت دے.

۷. د قوسین تر مینځه عبارت له ن ه رانقل شو.

صـ ۲۴۲

۱. هنـد (چې پـه زړو فـارسـي آثـارو کښـې د وبهند او اوهند په نامه یاد شوے دے) د مردان ضلعې په صوابی تحصیل کښې د صوابی د قصبې نه تقریباً د اوو اتو میلو په فاصله جنوب ته د اباسین په بنی غاړه واقع دے. تاریخي ځائے دے.

۱ الف و ب. میـر جـارو او بـاړه لـکه چې له سیاقه سباقه ښکاري د پیښور د خټکو د علاقې په خـوا کښـې د یـوسف، منډړ په علاقه کښې دي. باړه په مخ ۲۴۲ ناله یاده شوې ده هوري هم ظـاهـره ده چې د خلیل، مومند باړه ترې نهٔ شي مراد کیدے. باړه د صوابی تحصیل د مشهور تـوپـی کـلي (له صوابی خاتیز ته ده) یوه بانډه وه چې اوس په تربیله ډیم کښې راځلله او ورکه شوه. خو نهٔ شو وئیلے چې د نظر د لاندې باړه ځائے یا ناله دغه کلي سره څهٔ تعلق لري کهٔ نه.

۲. ن ه "په پاڅو".

۳. بـوقه خو د مردان ضلعې د صوابی تحصیل کلے دے چې له صوابی سهیل نمرخاتهٔ ته دے. خـو ن ا "بـوقـي پُـر" او بوقي پور" او "بوقي". ن ب "پوني پور" او ن ه "پوقي" یا "پولي پور" لري.

۴. مط ن ب و ن ه. ن ا "راواړولے بندونه نې راوستے".

۵، ۵ الف. مهـابـت پـور، هسې خو د سیاق او سباق له رویه قیاساً وئیلے شو چې د لنډي کینې غـاړې تـه د مـنـدنـو د علاقې کوم ځائے ترې مراد دے خو حتماً ما د دغه ځائے تحقیق ونهٔ کړے شـو. مغلکي د پیښور ضلعې د نوښار تحصیل کلے دے. د لنډي سیند کینې غاړې ته د سرائ اکوړه نه شمال مغرب ته او د ننډرک کلے (تحصیل نوښار) هم د لنډي په کینې غاړې مغلکیو ته نزدې ترې جنوب مغرب ته واقع دے. دواړه د خټکو کلي دي.

۶. د "راپـوري وهٔ". نـه پـس عـبـارت له "دفعه په دفعه" تر "هسې به پسې تلل" مط ن ه. د ن ا عبارت ناقص دے.

صـ ۲۴۳

۱. مط ن ه. ن ا "نشته دے".

۲. ن ا "په قرار یانهٔ". یعني په ورو، سست رفتار، یون، تګ، رفتار.

۳. یـوه لاچـي خـو د کـوهاټ په ضلع کښې د خټکو مشهوره قصبه ده. چې له کوهاټه تقریباً اوولـس اتـلـس میـله سهیل ته ترې واقع ده. خو لکه چې له سیاقه سباقه ښکاري د دغو واقعاتو

منظر د يوسف، مندڼ علاقه ده چې د پيښور د نوښار تحصيل د ختټکو علاقې ته نزدې د اباسيند په بنی غاړې له دغه سيندہ مغرب ته او د لنډۍ په کينې غاړې ترې شمال ته واقع ده. لنډے د ختټکو او يوسف، مندڼ د علاقو تر مينځه بهيږي.

ص ۲۴۴

۱ "نقيب هسې ووې".

"شوې وو بل رنګ". الخ. يعني هم دا هسې مقدر وۀ، تقدير هم دغه شان وۀ. بل شان څۀ نۀ شول کيدے. د ن ا عبارت داسې دے "نقيب هسې ووې چې کۀ ديو څوانانو شتاب کړے نۀ وے. اميد چې به فتح شوې وه. ولې وشوه بل رنګ". الخ.

۳. ن ا "قبيح".

۴. يا خبرزيو.

۵. مطلب دا چې کمالزي ئې وژلي وو. د امازيو په لاره راغلل د هغو کمالزيو د دريو مريو سرونه ئې راوړل.

۶. مط ن ه. ن ا "ډير زمان".

ص ۲۴۵

. ن ا "د قبيح خان د مقتديانو نه وئيلي وو".

۲. شهباز ګړهه د مردان د ضلعې په مردان تحصيل کښې د يوسف، مندڼ مشهور کلے دے. له مردانه قريباً اتۀ ميله خاتيز څخو قطب ته. د "مقام" او د شهباز قلندر د قبر په لړ کښې ئې په تيرو نوټونو کښې ذکر شوے دے.

۳. مط ن ب. ن ا "د بنادي کمالزي زوړے خنې په توپک وويشتل شول." ن ه "د بنادي کمالزي زوړے د ډنګرزيو په توپک وويشت شۀ ومړ." د ډنګر زيو کلے د سرائ اکوړه نه په لږه فاصله خاتيز څخو سهيل ته واقع دے.

۴. ګنبت د مردان ضلعې تحصيل کښې له مردانه خاتيز څخو سهيل ته، او د صوابي تحصيل بازارګي ته نزدې ترې لويديز ته پروت دے.

ص ۲۴۶

۱. وګورئ ص ۲۴۲ نوټ ۱ الف او ب.

۲. په مخ بابا رتا په حيثيت د ډيرى ياده شوې ده. کيدے شي چې بابارتا د ډيرى يا د کوم کلي نوم وي. چې ډيرى ئې هم په نامه ياده شوې وي.

۳. ن ه "بيخ ډير". بنيج ډهير کلے خو د واقعاتو منظر کښې اوس چرته معلوم نۀ دے البتۀ د

یوسف، منډن د مشهور او معروف کلي شاه منصور نه (د صوابۍ جنوب څخو مشرق ته) په لږه فاصله مغرب ته جنګي ډېر نومې کلې شته.

ص ۲۴۷

۱. سعد الله خان (علامي جملة الملک مدارالمهام) د عهد شاهجهاني له ډېرو لويو او مشهورو منصبدارانو او امراؤ څخه وۀ. د شاهجهان د عهد په ديرشم کال (۶۷-۱۰۶۶ هجري) کښې وفات شوے وۀ. خليل الله خان د عهد شاهجهاني او عالمګيري له ډېرو لويو منصبدارانو څخه دے. د اصالت خان (مير عبدالهادي وګورئ په تيرو پانو کښې د تارا ګړه او بلخ بدخشان د مهمونو بيان) ورور او د شاهجهان ساندو وۀ. نو د اورنګ زيب عالمګير د ترور (ماسي) خاوند شو د سمو ګړه په جنګ کښې د دارا ملګرے وۀ. خو زر ئې د اورنګ زيب اطاعت اختيار کړ. (وګورئ د خټک کتاب ص ۱۸۹، ۱۹۰) د اورنګزيب عالمګير د عهد په څلورم کال (۷۲-۱۰۷۱ هجري) کښې په ۲ رجب ۱۰۷۲ هجري (۱۱ فروري ۱۶۶۲ء) وفات شو. (دغه تاريخ لکه د مآثر عالمګيري انګريزي ترجمې ص ۲۳ او قاموس المشاهير جلد ۱ ص ۲۲۵ و ۲۲۶ کښې ورکړے دے د زوړ ستائل مطابق دے د نوي ستائل مطابق به ۲۱ فروري وي.

۲. "په قزاقي" دا دوه توري د ن ه په بنا وليکل شول.

ص ۲۴۸

. په ص ۲۴۶ او ۲۴۸ مو ولوستل چې "جانم امازے د جنجوها بولاق سره سر په سر شو" او "کور ته په صحت سلامت راغلل. يو جنجوها له ديو ومړ." مطلب دا چې له ختکو جنجوها او له مندنو جانم ومړ. دواړه سر په سر شول.

۲. ملک ميرے بنګښ.

ص ۲۴۹

۱. انبار ډېر يا انبار؟ که دا هم انبار وي نو د صوابۍ جهانګيري په سړک مشهور کلے دے. له صوابۍ تقريباً پينځۀ ميله مغرب ته دے. له سياقه سباقه بايد چې بنکاره وي چې د چارسدې د دوآبې انبا ډېر کلے دغو واقعاتو سره څۀ تعلق نۀ لري.

۲. د کوهاټ له بناره تقريباً پينځلس ميله مشرق ته ګنبت کلي (تحصيل او ضلع کوهاټ) ته نزدې ترې نور مشرق ته.

۳. دا دې غلطي نۀ شي ګڼلے. لکه د خوشحال بابا د يوۀ ترۀ د شير خان د ترۀ هم بهادر خان نامه وه.

۴. ن ا "خان ء" يعني خان عليين مكان". ن ه " اشرف خان" د خان جنت نښان نه مراد هم اشرف خان دے.
۵. ن ه. "نيلهن".
٦. مؤلف صرف عنوان قائم کړو او تفصيلات ئې څکه ور نۀ کړل چې ورلره ترجيع بند ذوالقافيتين ته حواله وشوه.

ص ۲۵۰

"د اټک د هزارې د پرګنې په برابر". ن ب و ن ه "د اټک د پرګنه د هزارې په برابر". ن ج هزار- هزرو (چې عام طور سره حضرو ليکل کيږي) د اټک (يا کيمبل پور) د ضلعې په چچ برخه کښې د مردان د ضلعې د صوابی تحصيل د تاريخي کلي هنډ نه چې د اباسين په ښي غاړه پروت دے جنوب څخو مشرق لوري ورته مخامخ په بله غاړه پرته ده. (وګوری ص ۲۴۲ نوټ ۱) د اټک نه هزرو د څو ميلو په مسافت مشرق رويه او شمس آباد ته نزدې ترې جنوب مشرق ته ده. (وګوری ص ۲۴۱ نوټ ٦) په تسلسل کښې ئې د دې صفحې نوټ ۵ هم ولولئ.
۲. عالمګير نامه "کامل خان".
۳. مط ن ه. ن ا "پورې شول".
۳ الف. مط ن ا. ن ب "برابر په لښکر په پياده ؤ پورې شول". ن ه "برابر په لښکر ورپورې شۀ".
۴. ن ا دغه ځائے "شجاع الملک".
۵. دغه جنګ چې اوس ئې ذکر وشو په شوال ۱۰۷۷ هجرې (اپريل ۱٦٦۷ ء) کښې هنډ نه نزدې د سيند په بله غاړه د هارون کلي په خوا کښې شوے وۀ. هارون د حضرو شمال ته په لږه فاصله واقع دے.
٦. ن ب "دور".
٦ الف. ن ب "غور".
۷. ن ب "يوسفزي ئې مات کړۀ".
۸. مط ن ب و ن و. ن ا "د ذوالحجې په پينځم".
۹. ن ا هم "ذوالقعدې".

ص ۲۵۱

۱. دو اره اکوزي يعني باليزي او راليزي.

۲. لــه "خــوبـنـبـي" تـر دې ځـايـه عبارت په ن ا کښې نشته. ن ب، ن ه او ن و سره مقابله او په بـنـائـې اضـافـه شـۀ. پـه ن ب کـښـې د "دربان منع دې نۀ وي". په ځائې "... منع دې وي او د "کوژده" په ځائې "کوژدنه" ده.

۳. وګـورئ ديوان د قطعاتو او متفرقاتو برخه. خوشحال بابا چې له رنتمبوره رها شو نو اګرې تـه د تګ دپـاره پـه شـمـال رويـه ټلو او دغسې به ئې له بنارسه چې د رنتمبور او د جې پور په مينځ کښې يو وړوکې رود دې تيريدو.

۴. لـه اسـه د پـريـوتـو واقعه ن ا کښې نشته. له نورو نسخو رانقل شوه. البته چې په هغو کښې ۱۰۷۶ دې مـا د ديـوان پـه بـنـا ۱۰۷۷ کـړ. په رجب ۱۰۷۶ هجري کښې خوشحال بابا په رنتـمـبـور کـښـې وۀ. او لـکـه چـې پـه تيرو کرښو کښې وليدل شول له هغه ځايه په ذوالقعدې ۱۰۷۶ هجري کښې رها شوې وۀ.

۵. نوم ئې مرزا لهراسپ وۀ د لوې مهابت خان يعنې د مهابت خان زمانه بيګ زوې وۀ.

ص ۲۵۲

۱. يا "واړه" يعنې ټول.

۲. لنګر کوټ چې په تيرو پاڼو کښې پرې هم خبرې شوي دي ګړهي کپوره دې چې له هوتي مردانه شپږ ميله ځاتيز ته د مردان ضلعې مردان تحصيل کښې د امازو منډو په تپه کښې دې. په څلور کلو مشتمل دې (۱) کوټ دولت زي (۲) کوټ اسماعيل زي (۳) ګړهي دولت زي (۴) ګـړهي اسماعيل زي. دغه قلا په کوټ اسماعيل زي کښې جوړه کړې شوي وه. او هم د دغې قـلا د جـوړيدو په وجه د مغلو او د خوشحال بابا تر مينځه د ښکاره مخالفت آغاز وشو. خوشحال بابا وائي:

لـنـګـر کـوټ مـغـلـو سـاز کـړو	زۀ پـــه نـــنـګ بيـا د افـغـان شـوم
کـــۀ يـوسـف وۀ کـــۀ مـنـدڼ وۀ	زۀ د دواړو نــــګـهـبــــــان شـــوم

۳. ن ه "بادشاهي".

۴. ن ه "واخله".

۵. ن ب و ن ه "ما جدل وواهۀ".

۶. مط ن ه. ن ا "کيغې". ن ب "قلعه".

۷. ن ه "شمشير خان ترين چې زوې د علي خان شاهجهاني وۀ چې چار هزاري منصبدار وۀ." ن ب مـط ن ا. دا شـمـشـيـر خـان هـم هـغـه سـړې دې چې د بلخ بدخشان د مهم په لړ کښې ئې ذکـر راغـلـې دې حيات نـومـيـدو او پـه خـتـه تـرين پښتون وۀ د پلار نامه ئې علي خان وه. د

شمشیر خان منصب دلته چار هزاري بیان شوے دے. خوشحال بابا په یوهٔ نظم کښې چې مطلع ئې ده:

د خدائے کرم رابانـدې الخ وګوری ص ۲۳۲، ۲۳۳) او هم د نظر د لاندې واقعاتو د شپو ورځو خواؤشا (۱۰۸۰ هجري) کښې ئې لیکلې وهٔ ورته پنج هزاري وئیلي دي. خو په مآثر الامرا کښې د شمشیر خان اخري منصب سه هزاري دو هزار و پانصد سوار دو اسپه سه اسپه او اخري تعیناتي ئې د هند تانه داري شوي ده. ګوندې پسته ئې منصب زیات شوے وي خو د مآثر الامرا مؤلف ئې ذکر نهٔ دے کړے.

۸. مط ن ب و ن ه. ن ا "تو که تو که".

۸ الف. مط ن ب و ن ه. ن ا "شهران".

۹. مط ن ب و ن ه. ن ا "اګر چې وزني وهٔ".

ص ۲۵۳

. ن ا "لښکر ساز کړه". ن ه "قلعه سازه کړه".

۲. ن ا "حسن بیګ خان". ن ب دلته "حسن بیګ خان" بیا "حسین بیګ" خان. ن ه "حسین بیګ خان".

۳. مط ن ب، ن ج، ن ه او ن و. ن ا "ملکان".

۴. ن ب "پراچی".

ص ۲۵۴

۱. مط ن ه. ن ا "ډار شهٔ".

۲. مط ن ب و ن ه. ن ا "مهمندزي". لکه چې له سیاقه سباقه هم ښکاره دي ارباب مستجاب خان غوریه خیل او په غوریه خیلو کښې مهمند وهٔ. د پېښور د مهمندو ارباب وهٔ. د پېښور په خوا کښې کوټلے نومے کلے ئې مسکن وهٔ. تر څهٔ مودې اګاهو پورې به ئې ورته کوټله مستجاب وے اوس کوټله محسن خان بلل شي.

ص ۲۵۵

۱. په مغلواله کښې چې کومو کسانو د مبارز خان خطاب درلهٔ له هغو کوم یو دا سړے دے؟ مبارز خان حسن خان (د شیخ رکن الدین ورور) خو د شاهجهان په عهد کښې وفات شوے وهٔ. د مبارز خان میر کل په حقله دغه قسم خبري (پښتنو سره مقابلې) د شاهجهان په عهد کښې بیان شوي دي. وګوری د راقم کتاب "خوشحال خان خټک" (اردو ص ۱۳۸ حاشیه ۲).

۲. مط ن ب. ن ا "چې روان شهٔ دې خائے چې نهٔ ئې اوبهٔ نشته چې لښکر به سیند واوړي. له

دغه خایه به جنګونه بنهٔ وکړه." .... دا لار و تهترو ته کوزې شوے، روان شهٔ و تهترو ته نور غرق شهٔ". الخ.

۳. لنډې خانه او تهتره.

۴. مرزا عبدالله.

صـ ۲۵۶

. مرزا سلطان کربلائي، د محمد امین خان د خور خاوند وهٔ.

۲. مط ن ب و ن ه. ن ا "خیبر".

۳. مط ن ب. ن ا "دا ناقباحت فهم د دهٔ وې وئیل چې" الخ. ن و "... کار پیښ شهٔ بیا به مصلحت سره وکړو". الخ.

۴. نظام پور د پیښور ضلعې په نوښار تحصیل کښې د سرائ اکوړه نه جنوب لورې اباسین ته نزدې ښې لورې د خوړې نیلاب په غرونو کښې واقع مشهور ځائے دے.

۵. فدائي خان (سید مظفر حسین) چې په دغو شپو ورځو کښې د لاهور صوبه دار وهٔ د بادشاه رضاعي ورور وهٔ. د لاهور مشهور شاهي جماعت هم د دهٔ د نګرانی لاندې جوړ شوے وهٔ.

۶. مط ن ب و ن ه. ن ا "ځلیریشت پینځهٔ ویشت کاله".

۷. سوالیه نخښه لـه ما ده. استفهام انکاري دے. یعنې نهٔ به وهم. ن ه کښې هم "نهٔ به وهم" الفاظ دي.

۸. سرائ اکوړه له پیښور ښاره او نوښاره په ترتیب ۳۷، او ۸ میله مشرق څخو جنوب ته په بادشاهي لاره واقع دے او د غلبلې په شپو ورځو کښې د خوشحال بابا د استوګنې دپاره غیر محفوظ وهٔ.

صـ ۲۵۷

. مط ن ب. ن ا "په ازل وررسیدل وو ورسیدهٔ".

"څهٔ به درته وایم". دا به د محمد امین خان الفاظ وي. او کهٔ داسې وي "څهٔ به درته وایم" نو د خوشحال بابا الفاظ به وي. د مشکل صورت حال ظاهرونکي او له زامنو نه ئې د شکایت رنګ لرونکي.

۳. مط ن ب. ن ا او ن ه "بیا سعادت" الخ. سعادت خان د خوشحال بابا دویم زوے وهٔ.

۴. څو کرښې اګاهو تاسو ولوستل چې "تر اټکه پورې ووت". له دغه خایه معلومیږي چې خوشحال بابا سره د سوال ځواب او نا امیدی. د خوشحال بابا له زامنو چا سره د لیدلو نه د نا امیده کیدو نه پس تر اټکه پورې ووت.

۵. د کوهاټ ښار نه اوولس میله سهیل ته د سرک په غاړه د شینیو ختکو مشهوره قصبه. وګوری ص ۲۴۳ نوټ ۳.

۶. د پېښور ضلعې په نوښار تحصیل او د ختکو په علاقه کښې د خیر آباد لویدیز او د زیارت کاکا صاحب جنوب مشرق ته.

ص ۲۵۸

. د حضرت شیخ رحمکار صاحب رحمة الله علیه مشر زوی او د خوشحال بابا زوم لکه چې لږ په مخ وضاحت کیږي.

۲. دهلي.

۳. مط ن ب و ن ۵. ن ا "...... د شاهجهان بادشاه په ملازمت" الخ.

۴. مط ن ب. ن ا "مذکور". ن ۵ "مذور".

ص ۲۵۹

. دا "باغ" سرایے اکوړه ته نزدې جنوب مشرق ته دے.

۲. یا "د سرور مینې".

۳. مط ن ۵. ن ا "په دې دوارو سم".

۴. د جمو پهاړیه، د پورې کلیو بولاق، راپورې د سیند په غاړه کلي. وقف، له ما دے. یو جمو خو د ختکو د علاقې په خوا کښې د آدم خیلو افریدیو په علاقه کښې د خیر آباد (تحصیل نوښار، اټک ته نزدې مغرب رویه) نه په لږه فاصله مغرب ته دے. یو بل جمو د جمو کشمیر برخه ده. دغه علاقه هم غرئیزه ده او د پښتو لفظ غرځني په ځائے د هندکو یا هندي لفظ "پهاړیه" استعمال نغوته کړي چې ګوندې د بهرام په لښکر کښې د مغلو سره د دغه علاقې ځني سپاهیان هم شامل وو. والله اعلم بالصواب.

۵و۵الف. د زیارت کاکا صاحب (د نوښهر چاؤنی نه تقریباً پینځهٔ شپږ میله سهیل ځخو خاتیز ته) مشرق رویه درې ځلور وړې وړې بانډې د پیتاؤ په نوم آبادي دي. یوه وړه غونډې آبادي څو کورونه د پیتاؤ په نوم د تپولو نه د مشرقي پیتاؤ په شمال کښې د کټې میانې شمال مغرب ته ده. یو ځائے پیتاو غر (بې له آبادی) د چراټ چاونی او د بختي کلي دوارو نه شمال ته وروستي مقام ته زیات نزدې واقع دے دغسې میله پیتاو کنډو (بې آبادی) د تپولو نه زیات مشرقي پیتاو کلي نه جنوب د خیر آباد نه شمال مغرب او خاوری نه شمال مشرق ته دے. د نظر د وړاندې ځائے نه په یقین نهٔ شو وئیلے چې کوم پیتاؤ مراد دے. خو بختي کلي ته نزدې شمال رویه پیتاؤ غر به ترې مراد نهٔ وي ځکه چې دا د حضرت شیخ رحمکار رحمة الله علیه د

زيارت نه په كافي فاصله جنوب مغرب ته دے . اغلبه دا ده چې كوم پېتاؤ ورته نزدې پېتاؤ يعنې مشرق ته پروت دے هغه به ترې مراد وي چې سياق او سباق دغه نغوته كوي.
٦. دوه خلې د زيارت او ورنزدې پېتاؤ نه شمال مشرق ته دے چې ترې شمال ته نزدے دوه خله تالاؤ دے چې له عمرې كلي په لړه فاصله جنوب مغرب ته دے .
٧. منهي د زيارت كاكا صاحب او پېتاؤ نه په لږه فاصله جنوب مشرق ته ده.

ص ٢٦٠

. ن ا "قمرزي" په ځائے "د قرمزي" وګورئ ٧. او ٧(ا).
٢. مط ن هـ. ن ا "مهمندو". مهمندي ختک دي چې د چراټ د غرونو سهيل ته استوګنه لري.
٣. مط ن هـ. ن ا "غريب خانه " په ځائے د غربين.
٤. دلته ن ا هم "مهمنديو".
٥. دلته ن ا هم قرمزي (قرميزي).
٦. مط ن ا و ن هـ. ن ب سن ١٣ . درې واړه مياشت و سن ښيي خو تاريخ نهٔ لري.
٧. ن ا " ښاغلے " ممكنه ده داسې وي (قرمزي) د غابښي. د قرمزي خوړ د ډاک اسماعيل خيل شمال ته او هم جنوب مشرق د چراټ جنوب ته دے. دغه ټوله خصوصاً جنوبي برخه كوهستاني ده. ګوندې قرمزي خوړ د كوم كلي يا غابښي له نسبته نوملے شوې وي.
٧الف. د اسماعيل خيلو ډاک (ډاک اسماعيل خيل) د ختكو مشهور كلے د پبو او چراټ په لاره كښې د اولني ځائے جنوب او دويم شمال مغرب ته دے. حضرت شيخ بابر رحمة الله عليه چې د حضرت كاكا صاحب (شيخ رحمكار) رحمة اللّٰه عليه له خلفاؤ وو هم د دغه كلي وسيدونكي وو. مزار ئې ورته نزدې تقريباً د ميل دوو ميلو په فاصله مغرب رويه واقع دے .
٨. ن هـ "راوستے".

ص ٢٦١

١ . مط ن هـ. ن ا "اوښان غوايه راوستهٔ. هم ډير قتل ژوبله وشوه". ن ب "روانات هم واړه قتل ژوبله شول".
٢. ن ا " بوچه ټوكو خيل وو."
٣. مط ن هـ.
٤. مط ن هـ.
٥. ن هـ " د صاحب ززے " الخ.

۶. له سیاقه ظاهره ده چې دا د مومندو د علاقې مشهوره کرپه نه بلکه د ختټکو د علاقې (ضلع پیښور تحصیل نوښهر) ځائے دے. عمري کلي ته نزدے شمال مشرق رویه برو ایسوړو ته نزدې کرپه تالاو نومې ځائے هم شته او د نظام پور جنوب ته کرپه کنډو هم.

۷. اینخرے د کرپې کنډو نه پس دولس میله شمال مشرق ته د ختټکو د کاهی نه درې څلور میله نور شمال مشرق ته دے. د پیښور ضلعې د نوښهر تحصیل ځایونه دي.

۸. د ډنبرې غر د آدم خیلو افریدو د حسن خیل څانګې په علاقه کښې د موسیٰ درې په خوا کښې دے.

۹. دغه جمو (وګورئ ص ۲۸۹ نوټ۳.) د آدم خیلو آفریدو د ژواکي څانګې په علاقه کښې دے. د آفریدو دغه علاقې لکه جمو، موسٰي دره، بورئ، بسته وونې او جنیاکړ (یا جانه کړ) د خوړې نه جنوب مغرب ته واقع دي.

۱۰. چند اول په عکس د هراول د فوځ وروستی برخې ته وائي.

. دا ځائے په خوره کښې دے. (تحصیل نوښهر ضلع پیښور) د نظام پور نه شمال مغرب او میر کلان جنوب مشرق ته د دواړو تر مینځه.

۱۲. ن ا "روان کړل". ن هـ "تنبې ترلې د نیلاب په کلیو روان شوم". ن ب" تنبې ترلې د نیلاب په کلیو روان شو".

۱۳. مط ن ب، ن ا عائشه خیل. د عاشه خیلو کلے (تحصیل نوښهر ضلع پیښور) د زیارت کاکا صاحب نه جنوب مغرب او مانکي شریف نه جنوب څخو مشرق ته دے. د کلي نوم په اصل کښې کۀ هر څۀ وي خو تلفظ ئې آشه خیل دے.

۱۴. مط ن هـ. ن ا "بهادر خان".

ص ۲۶۲

او ا الف. ن ا و ن ب جانګړ ن هـ جانه کړ. وګورئ ص ۲۶۲ نوټ۵. دلته هم د آفریدیو ذکر دے نو جینا ګور طرف ته قیاس درومي.

ا (ا). مط ن ب. ن ا " میوړ دوه کلي ئې" ن هـ "د میوره ۆ کلي ئې". میوړه د پیښور ضلعې د پیښور تحصیل د داؤدزو د تپې یو کلے دے. خو دلته منظر د ختټکو او آدم خیلو آفریدیو د علاقو حد حدود دي.

ا (ب). مط ن هـ. ن ا "درې څلور شپې تیرې شوې".

۲. یا "توګه توګه".

۳. توتکے د نظام پور لویدیز او د چراټ سهیل ته د ختټکو او آدم خیلو افریدیو په برید پروت

دے.

۴. یا "کواز دره" یا "غوث دره" د آدم خیلو (ژواکیو) افریدیو په علاقه کښې یو غابنے، د زیارت شیخ الله داد (ضلع کوهاټ، د خټکو د زیړي علاقه) نه جنوب مغرب ته، د پسته وني (آدم خیل) جنوب ته او د جمو (آدم خیل) جنوب مشرق ته. ن هـ "په مهراجي په کاوز دره راغے . مهراجے یا مراجے لکه چې عام طور سره بلل شي د زیارت کاکا صاحب نه مغرب څخو جنوب او د توتکي او کمر میلې نه شمال څخو مشرق ته د ختکنامې کلے دے. مراجي نه جنوب څخو مغرب ته گوز دره نومې یو بل خائے هم شته. چې پیتاو ته نزدې تړې جنوب مشرق ته او کونلهٔ کندو (وگوریٔ ص ۲۶۹ نوټ ۲) ته هم نزدې تړې قبلې ته دے. او په مقابله د آدم خیلو د کواز درې یا غوث درې مراجي ته ډیر لنډ دے.

۵. تحصیل نوښهر ضلع پیښور، د چراټ جنوب مشرق ته د خوړې په شمالي حد.

۵الف. د جیناکړ یا جانه کړ نه جنوب مغرب او جمو نه شمال مغرب.

۶ ن هـ "مهمند". ممکنه ده عبارت داسې وي: ......بنادو گے د توره څپره" الخ. او وگوریٔ ص ۲۶۴ "....کلا خان آفریدے بنادو" الخ.

۷. یا "کمرمینې" د توتکي (نوټ ۳ بره) نه په لږه فاصله شمال مشرق ته.

۸. ن ا "مهمندو". ن هـ "ونې ونیل زهٔ به ورشم روئے شفاعت" الخ.

۹. ن هـ "بدي". "بدي به د خټکو نه اخلي".

ن ا و ن هـ "خټکو نه نهٔ اخلي".

ن ب "نهٔ اخلو". د اخستلو حواله بهرام ته ده. یعنې زمونږ د جرگې په نهٔ منلو به د خټکو دښمني نهٔ اخلي.

صـ ۲۶۳

. ن ا "......تمام وهٔ. یو تر بله ورنرغے

۲. ن ا "نشوزي". ن هـ "نشوري". لاشوړه د چراټ سهیل ته د څو میلو په فاصله واقع ده. کمر میلې ته نزدې مغرب رویه ده.

صـ ۲۶۴

مط ن هـ. ن ا "سرابي".

۲. مط ن هـ. ن ا "ناکي".

۳. ن ا "نیزه باز زمونږه". الخ.

۴. ن ا "برابر".

۵. ن ا "رامهٔ اوسئ". ن هـ "رامه اوسيو".
٦ ن ا "دوي دري" الـخ. ن ب "دوي درسو رو راگډ کړه" ن هـ "محموټے او د حکيم زوے د يو درو سورو راگډ کړے".

صـ ۲٦۵

نور يعني بيا يا نورې کډې.
۲. ولـي د پيښـور ضـلـعې په نوښهر تحصيل کښې ده. د زيارت کاکا صاحب نه شمال څخو مشـرق تـه ده. او کـمه ولي د ولي مغرب څخو جنوب ته د زيارت نه شمال ته ده. دواړه کلي زيـارت نـه پـه لږه فاصله دي. يوه بله ولي د آدم خيلو آفريديو په علاقه کښې د جمو شمال او بـوړي جـنـوب تـه د دواړو تر مينځه ده. پسه ونې د ولي نه شمال مشرق او ترې نوره شمال مشرق ته موسيٰ دره ده. د ډنبرې غر هم دلته دے. وګورئ ص ا ٦ ۲ نوټ۸.

صـ ۲٦٦

. مط ن هـ. يا "راجګل". ن ا "راچکل".
۲. ن ا هم دلته "راجګر".
۳. تـخـت د کـوهـاټ ضـلـعې په کوهاټ تحصيل کښې له کوهاټه تقريباً پينځهٔ ويشت ميله جنـوب مشـرق ته هغې لارې ته شمال رويه نزدې پروت دے. چې د کوهاټ بنو سړک نه لږ کـوهـاټه په دوه ويشتم ميل مشرق رويه بيله شوې ده. او مشرق او جنوب لورې شکر درې تـلـې ده. چې د لارو د بيلتون له خايه دوويشت نيم ميله او له کوهاټه څلور څلويښت نيم ميله پـه کـوهـاټ تـحـصـيـل کښـې ده. تخت وروميے لکه د نورو ډيرو خايونو د کوهاټ ضلعې په تيـري تـحـصـيـل کښـې وه. خو د پاکستان د جوړيدو نه پس تيري تحصيل ختم کړے شو او علاقه ئې کرک او کوهاټ تحصيلونو کښې تقسيم شوه.
۴. ن ا "مـحـل" غـالباً "محيل" يعني حيله ساز. "خلل کننده" ورسره په مخ شته. چې د مخل هـم مـعـنيٰ دے خو دا هم کيدے شي چې د تکرار دپاره "مخل او خلل کننده" دواړه استعمال شوي وي. ن ب صرف "خلل کننده".
۴ الف. ن ا "غل".
۵. خرم (چې خټک ئې تلفظ خ وَرَم کوي) د خټکو يوه وړه څانګه هم ده. او د دوو کليو نوم ئې هم دے. خرم محمد زي د کوهاټ په ضلع کښې د بانډه داؤد شاه (د تيري نه سهيل خاتې تـه) جـنـوب مغرب او بهادر خيلو نه جنوب مشرق ته د کوهاټ بنو سړک په غاړه واقع دے بـل څـنـډه خـرم هـم د کوهاټ په ضلع کښې دے چې د تخت نه (وګورئ نوټ۳) نه خواؤ

لس دولس میله سهیل ته پروت دے او مقابلتاً په کافي فاصله د خرم محمد زي نه شمال مشرق ته دے.

۶ د کوهاټ د ضلعې د ختټکو مشهور کلے او د جنوب مغربي ختټکو د خاني کور د کوهاټ او لاچي دواړو نه جنوب مغرب ته د کوهاټ، بنو سړک نه ورته د باندې داؤد شاه نه لار بيله شوې ده او ترې په لړه (د څو ميلو) په فاصله شمال مغرب ته واقع دے.

۷. د مکوړيو کلے د باندې داؤد شاه شمال ته نزدې په لږه فاصله د کوهاټ بنو سړک ته نزدې مشرق رويه واقع دے.

ص ۲۶۷

مط ن هـ. ن ا "له دغه ځايه وررروان شئ". ن ب "خراب شي".

۲. ن ا "غزا".

۳. يو خو زيارت کاکا صاحب ته بالکل نزدې قبلې ته او بل ترې مقابلتاً په کافي فاصله نور قبلې څخو جنوب ته د جبه ختټک او وچ ختټک نه په لږه فاصله په ترتيب شمال مشرق او شمال ته. واضحه نۀ ده چې کوم سپين کاڼے ووهلے او وسيزل شو. خو له سياقه سباقه واضح دي چې دا وخت د ضياء الدين صاحب مسکن (هغه ځائے چې ورانول ئې مطلوب وو) سپين کاڼے نۀ وۀ.

۴. يعني د تخت کوټ.

۵. ۱۰۸۴

۵الف وب. مط ن ب. ن ا "سيني".

۵(ج). گنبت کلے د کوهاټ ضلعې په کوهاټ تحصيل کښې د کوهاټه تقريباً ۱۵ ميله خاتيز څخو سهيل ته دے. د تيري تحصيل د ختميدو نه آگاهو دا کلے هم په تيري تحصيل کښې وۀ.

۵(د). مط ن ب. ن ا "سيني".

۶. موشک د بولاقو ختټکو ځانګه ده.

ص ۲۶۸

۱. د نيلاب غر (چې د ژواکيو آدم خيلو آفريديو له علاقې شروع شوے د ختټکو په علاقه کښې مشرق رويه تير شوے او له اباسينده اوړيدلے دے). څو که ئې نيلاب غاښے (۲۹۷۴ فټه) د ختټکو په علاقه کښې ده. يو بل ته نزدې پلوسي دوه کلي ترې په نيغو تقريباً لس دولس ميله قطب ته دي. ورته نزدې خاتيز څخو قطب ته د کتي خيلو او عاشه خيلو کلي دي. د چراټ

چاؤنی ترې سهیل څخو لویدیز ته ده.
۲ ن هـ "په نیلاب در وختم" الخ.

صـ ۲۶۹

۱. شاه کوټ دوه کلي (بر او کوز) له چراټه قطب لویدیز او له پېو سهیل خاتیز ته دي. بر شاه کوټ له کوزه سهیل خاتیز لوري ورته نزدې پروت دے.
۲. ن ا "هند و کند" ن ب "بندو کندو" خو زما خیال دے چې دا ځائے کونډ کنډؤ دے چې د پلوسو او دره نومې غاښې نه سهیل ته دے. او نزدې ورته قبلې ته گوزدره ده (وگورئ ص ۲۶۲ نوټ۴).
۳. بختی له کونډ کنډؤ او گوز درې سهیل لویدیز ته پرته ده. او نزدې ورته قطب لویدیز لوري برشاه کوټ دے.
۴. ن هـ "کلان خان کلي".
۵. یا "واړه سر".
۶. وروميے هم د شاه کوټ نه آگاهو د بختی د سوو ذکر شوے دے.
۷. وگورئ ص ۲۶۷ نوټ۳. دلته ترې دويم سپين کانے مراد دے. د بختی نه تقریباً شپږ اووه ميله قطب ته.
۸. مط ن هـ. ن ا "پسوتي".
۹. مط ن هـ. ن ا "د کنگريزو خوا ته" لکړی له هغه سپين کانيه چې بره په نوټ ۷ کښې مقصود گڼلے شوے دے. په لږه فاصله سهيل خاتيز ته واقع دے.
. ن هـ "لوړه" موړه هم په پښتو کښې وچت ځائے ته وائي.
۱۱. له دغه ولی غالباً چې هم د ختېکو د علاقې ولی مراد ده. ولی يا کمه ولی . وگورئ ص۲۶۵ نوټ۲.

صـ ۲۷۰

۱. ډنگډنک د سرائے اکوړه نه تقريباً نهۀ لس ميله سهيل ته دے.
۲. مط ن هـ. ن ا "گورخانې". کۀ گورخانه وي نو مراد به دا وي چې هغه ځائے چې پکښې مې د پلار نيکۀ هديره ده. "گورخانه". د هم معنیٰ تکرار دے. چې مثالونه ئې ډېر دي او بيا ته اړ نۀ دي.
۳. کوز ایسوړي ترې مراد دي. چې د باچهي لار په خوا کښې له سرایه میل یو نیم میل خاتیز څخو سهیل ته دي.

۴. ن هـ "برابر".

۵. دا تول کلي یو بل ته نژدې له سرایه خاتیز سهیل رویه پراتهٔ دي. او څنګه چې د خوشحال بابا په لاره کښې راتلونکي وو هم په هغه ترتیب ئې یاد کړي دي.

۶. مشهور ځائے چې په تیرو نوتونو کښې یاد شوے دے. د اباسین په ښي غاړه د اټک (چې د اباسین په کینه غاړه دے) نه په لږې فاصلې.

۷. مط ن ب. ن ا "دا واړه ټوري د لښکر شهٔ". ن هـ "دا واړه وړپره د لښکر وه".

۸. ن هـ "عاشکه".

۹. ن ا "سیني خیلو".

. د زاخیلو دوه کلي د پیښور ښار نه تقریباً شپاړلس اوولس میله خاتیز څخو سهیل ته پراتهٔ او نوښهر تحصیل کښې دي. دواړه کلي د پیښور تحصیل د مومندو د ټپې د کوه دامان برخې د زاخیلو د کلي بانډې دي. د ټپې جنوبي یا کوه دامان برخه (تانه متني) کښې تول کلي مومند نهٔ دي. او بله بیره تانه یا قطبي برخه کښې تول کلي مومند دي. په کوه دامان کښې د مومندو کلي ادیزي، زاخیل، یوسف خیل او پسني وغیره مومند دي. ولې چې کوم ځائے دا وخت خوشحال بابا وهٔ. د محل وقوع له رویه دواړه علاقې متعلقې کیدې شي. اګر کهٔ نوښار زاخیلو سره یوسف خیل کلے نشته او قبلې ته ئې بل کلے ډاګی د حسن خیلو د مومندو دے خو ګوندې د نظر د وړاندې زمانه کښې د نوښهر په دغه بانډو کښې د یوسف خیلو حصه هم وه. په مخ په ص ۲۷۲ (آخري کرښه) چې کوم زاخیل یاد شوي دي یقیناً د نوښهر زاخیل دي او هورې هم ورسره یوسف خیل یاد شوي دي. اوس له دغو بانډو په اکثرو کښې هلته مومند شته نه. او کهٔ چرته شته نو هم څو کوره. اګر کهٔ په پښتونواله کښې دغه بانډې د خلیلو یا د مومندو ملکیت وے. خو له ډیرې مودې خصوصاً له پیرنګوالي راهسې ملکیتونه هم تر ډیره حده بدل شوي دي.

. مط ن هـ. ن ا "وقرمیزي کښې".

ص ۲۷۱

. وګورئ ص ۲۶۶ نوټ ۵.

۲. مط ن ب. ن ا "لا بیحده بیماره وه".

۳. غالباً فقیر جمیل بیګ د خوشحال بابا وررور مراد دے.

۴. وګورئ د راتلونکي مخ نوټ ۱.

۵. یا "لویه پیره" یعنې ګردش، چکر (انګریزي راؤنډ).

٦. مـط ن هــ. ن ا "مـندړو". ن ب "مندنړو "مندونړي نومې کلے د کوهاټ ضلعې په کوهاټ تـحصیل کښې د خټکو په زیړه نومې علاقه کښې د آدم خیلو آفریدیو د ولی (قبائیلي علاقې) نه په نیغو خاتیز ته پروت دے. (وګورئ ص ۲۶۵ نوټ ۲)، بل یو کلے مندوری نومې د پېښور ضـلعې په نوښار تحصیل کښې هم د خټکو په علاقه کښې د خیر آباد سهیل ته واقع دے بله مـندوری د کوهاټ ضلعې په کوهاټ تحصیل کښې هم د خټکو په علاقه کښې د لاچی نه په لږه فاصله قطب ته کوهاټ، بنو سړک ته ډېره نزدې مشرق رویه پرته ده. خو دا دویم کلے له بـحثـه د واقعاتو د نظر د وړاندې منظر له رویه خارج دے. دویم هم قیاس ته نزدې نهٔ دے یا په یـوه نسخه کښې هم مندوري نشته. په یوه کښې چې مونږ ئې پیروي وکړه، مندونړي دے، او په دوو نورو کښې مندړ او مندنړ هم د مندونړي په ځائے د کتابت غلطی دي.

ص ۲۷۲

ا ګـنـډیـالـي دري کـلـي له ګنبته (ص ۲۶۷ نوټ ۵ ج) درې څلور میله لویدیز ته د کوهاټ ضلعې په کوهاټ تحصیل کښې واقع دي. اپریدي او خټې نور خلق پکښې آباد دي.

د ګـنـډیـالـي د ذکره سره له سیاقه سباقه مونږ د راجګړهـ (چې شو ځایه ئې آګاهو هم ذکر راغلے دے) د محل وقوع د تعین په حقله هم قیاس کولے شو. یو راجګل خو د تیراه قبلې تـه د کـوکـي خیـلـو اپـریـدو مشهـوره دره ده. او هـسـې وئـیـل شي چې د اشنغر رڼړ کلي (له چـارسـدې تـقریباً دوه میله او له تحصیله میل شمال رویه) ته به ئې هم پخوا راجګړ وئیل خکه چې د یـوهٔ قـدیـمـي ریاست د صدر مقام مشهور تاریخي ښهر پشکلاوتي محل وقوع هم دغه ځـائـے یا خواؤشا ئې وه. خو د کوم راجګړ ذکر چې مونږ تر اوسه ولوست هغه له دغو دوؤ یو هـم نـهٔ شـي کـیـدلـے. غـالباً دغه راجګړ د کوهاټ خټکنامې او د آدم خیلو آفریدیو علاقې ته نزدې کوم ځائے وهٔ.

د ګـنـډیـالـي قـطـب ته، د آدم خیلو د ولی او تور څپر نه لویدیز ته (وروستو یاد شوي ځـائے ته ډیر نزدې) رازګے نومې ځائے شته اګر کهٔ نهٔ شو وئیلے چې دا رازګے چیرې راجګے او راجګړ یاد شوے دے کهٔ نه.

۱ (ا). ن ا "ترضیق". ن ب و ن هـ "ترضیق". ن و "ترفیق".

۲. غورزې تـول د کـوهاټ ضلعې په کوهاټ تحصیل کښې د خټکو کلے دے. چې له ګنبته (ص ۲۶۷ نوټ ۵ ج) درې څلور میله مشرق ته واقع دے.

۳. د طنبـل سـر یـا غـاښـے د ګـنـډیالي نه په لږه فاصله شمال مشرق ته د آدم خیلو آفریدیو او خټکو په پوله واقع دے. د آدم خیلو د جمو نه جنوب څنخو مشرق ته دے.

۱. د چراټ چاؤني شمال او د خلوزو کلي جنوب مشرق ته ، او وګوريځ ص۲٦۷ نوټ ۳.

د خوشحال بابا مور بي بي خلوزی وه. (وګوريځ ص ۲۲۰) خلوزي اصلاً خليل غوريه خيل ي چې په خټکو کښې ضم شوي دي. (ص۲۲۴) د خلوزيو کلے د پبو او ډاګ اسماعيل يلو تر مينځه د پبو، چراټ سړک نه مشرق رويه ورته نزدې واقع دے.

ن ا "ډاګو" ن ب و ن هـ "ډاګونو". خوشحال بابا به خلوزيو ته د رسيدو نه وړومبے له ک اسماعيل خيلو تيريدو نو دغه ډاګ له بحثه خارج دے. د خلوزيو نه د راوانيدو نه پس د زاخيلو يوسف خيلو کليو او پيرپيائي ته د رسيدو نه آګاهو به چې د خوشحال بابا په لاره ښې کوم ډاګ راتلو نو ډاګ بيسود چې له خلوزيو شمال څخو مغرب ته دے. خو اګونو" او "ډاګو" دواړه د جمع صيغې دي. له ډاګ بيسوده به خوشحال بابا خاتيز لوري سو او په لږه فاصله به د حسن خيلو په ډاګي (ص ۲۷۰ نوټ ۱۰) تيريدو. ډاګي دوه کلي . مغرب رويه زړه ډاګي، مشرق رويه نوے ډاګي، ترمينځه ئې خوړ دے، خو ګوندې د ے ډاګي آبادي د خوشحال بابا تر وختونو تلونکے نۀ وي. ممکنه ده د "ډاګ" (ډاګ سود) او "ډاګي" دواړو دپاره د "ډاګونو" يا "ډاګو" لفظ مشترکاً استعمال شوے وي.

پيرپياوي (يا پير پيائي) د ډاګي او زاخيلو نه مشرق ته دے. زاخيل د دواړو تر مينځه دي.

ې واړه کلي د سړک نه سهيل ته دي.

وګوريځ نوټ۷ بره. او ص ۲۷۰ نوټ ۱۰

صـ ۲۷۳

د نوښهر نه مراد زوړ نوښهر يعني خټ کلے دے.

ف. ن ب "بازيخيل". باره خيل د مهمند زو څانګه ده. باره خيل اوس هم په زوړ او نوي رو نوښهرونو کښې شته. ن ب هم مخکښې "باره خيل" لري. وګوريځ په مخ نوټ ۳.

يعني هغه خټک چې د اپريديو له کوټه د راوتو له قبله پکښې ګير پاتې شوي وو.

دلته ن ب هم "باره خيل".

مط ن ب و ن و. ن ا "هسې واوري باران سارۀ". الخ ن هـ "هسې باران سره" الخ.

ن ا "لاونده خوشته......راغلم". ن ب "لوند خويشت.....راغلم." ن هـ "خوشت راغلم".

ظام پور نه په لږ مزل سهيل ته.

صـ ۲۷۴

: پنجاب د اټک يا د کيمبل پور په ضلع کښې د خټکو کلے چې د کوهاټ د ساغريو

ختـکـو د شکر درې نه سهیل خاتیز ته د اباسین په کینه غاړه پروت دے. د ختکو خوشحال گړ (کوهاټ) ترې قطب ته د اباسین په سمه غاړه دے. له کالا باغه (ضلع میانوالي پنجاب امّا د اباسین په سمه غاړه) ورته مقابلتاً نزدې قطب خاتیز ته او د کوهاټ د بارکو ختکو له کرکه نیغ خاتیز ته.

۲. دلته ټولې نسخې "بې سعادت". وګورئ ص۲۵۷ نوټ ۲.

۳. د مور د لوریه. د عابد خان مور کهتیره وه وګورئ ص ۲۲۰.

۴. ن ا "واړه غـټ پـه خدائے سپارلي هم د خدائے په دوست په نعمت په عصمت په مسلمانی کښې ئې لـري". ن هـ "واړه غـټ واړه په خدائے سپارلي دي خدائے دې ئې په دولت نعمت ساتلي لري".

۵. مهاراجه جسونت سنگهـ راتهور د جودهپور (اجمیر مارواړ) والي.

۶ شـجـاعت خان رعد انداز بیګ د اورنګ زیب منظور نظر جرنیل چې ست نامیان ئې مات کړي وو.

۷. ن هـ "بچه بد مغز دے".

ص۲۷۵

خاوری تـه نـزدې مـغـرب رویـه څخو شمال ته، د سرائ اکوړه جنوب څخو مشرق ته د منهی مشرق ته (دا ټول خایونه د ختکو په خوره تپه تحصیل نوښار ضلع پېښور کښې دي).

۲، ۲ الف. وګورئ ص ۲۷۱ نوټ ۲

۳. ځنې نسخې په ځنو ځایونو کښې "پټالې" لري چې صحیح نهٔ دے. وګورئ لیو په مخ "د ټاپیه وجاروت".

۴. یا "چندړ"؟

۵. وګورئ ص ۲۶۲ نوټ ۴.

۶. مط ن ه و ن و. ن ا "بیا زر وجاروت".

۷. مط ن ب، ن ه و ن و. ن ا "شلو".

۸. دا جنګ په ۱۸ ذوالقعده ۱۰۸۴ هجري (فروري ۱۶۷۴ء) کښې د مومندو د کرپې په شمالي سر او ګنداب کښې چې سره لګیدلي دي شوے وهٔ.

۹. تتر خان یا تاتار خان.

ص۲۷۶

۱۰ "کوهاټ". ن ب، ن ه او ن و "کوټ".

۲. د کوهاټ بنار یا کوټ څخه ډیر نزدې د ګداخیلو یا ګدائي خیلو کلي نشته. ګدا خیل د کوهاټ نه قریباً نهۀ میله سهیل ته دي ورته نزدې چیچنه کښې کوټ وۀ دا د بنګښنو کلي دي.

۳. ن ا "خپل". ن ب او ن ه "قتل"، ن و "قتل".

۴. پـه تـحصیل او ضلع کوهاټ کښې له کوهاټه یوولس دولس میله سهیل خاتیز ته د بنګښنو کـلـے دے. ګـنـدیـالـې ترې قطب خاتیز ته دے. خوشحال بابا به له بنادي خیلو وړومبے خاتیز رویه او بیا قطب رویه تللے وي.

صـ۲۷۷

۱. د کوهاټ په دره (دره آدم خیل) کښې د آدم خیلو افریدیو د سړک په غاړه یو کلے چې له پیښوره اووۀ ویشت اتۀ ویشت میله سهیل او له کوهاټه دولس دیارلس میله قطب ته دے.

۲. ن ا په "وپلیشت" الخ. ن ب "یوبلشت". ن ه "یوپلشت".

۳. د اردي بهشت میاشت له ۲۱ اپریل - ۲۰ مئ (ویساک - جیټ).

۴. د ډاګ اسـمـاعیـل خیـلـو او چـراټ تـر مینځه له وړومبي خایه جنوب مشرق او له دویمه مغرب ته.

۵. م ط ن ب و ن ه (یا"..... ظاهر وۀ). ن ا "د حسن اخلاصمندي ظاهره وه".

۶. مـط ن ب و ن ه. ن ا "هـفـغـے . هـفـغ = ۱۰۸۵، هـفغے = ۱۰۹۵ دا واقعات د ۱۰۸۵ هجري (۷۵-۱۶۷۴ء) دي.

۷. تند د ملک دین خیلو افریدیو علاقه ده.

۷ الف. ن ا و ن ه "سیدان". ن ب و ن ج "سیدانو". میدان د تیراه زړۀ د ملک دین خیلو، زخه خیلو، قنبر خیلو او آدم خیلو افریدیو ګډ ملکیت دے.

۸. د خورداد میاشت ۲۱ مئ - ۲۰ جون. (جیټ هاړ)

۹. تیر ماه ۲۱ جون - ۲۰ جولائي. (هاړ پشکال)

۱ "ګوټ". ن ب "کوټ". ن ه "کوټه".

صـ۲۷۸

۱. اورنګ زیب په یوولسم محرم ۱۰۸۵ هجري (۱۷ اپریل ۱۶۷۴ء) حسن ابدال لوري ته کـوچ کړے وۀ. او په دوېم ربیع الثاني (اوائل جولائي) ور رسیدلے وۀ. حسن ابدال د اټک یا کیمبل پور په ضلع کښې د پیښور او راولپنډۍ په لاره کښې له وړومبي خایه تقریباً ۷۷ میله سهیل خاتیز ته او له دویمه تقریباً ۲۷ میله قطب لویدیز ته دے.

۲. د اورنګ زیب څلورم زوے محمد اکبر.

۳. مط ن ۵. ن ا "د حسن علي". چې مطلب به ئې د حسن علي زوے وي.
۴. ن ا "خوانان".
۵. د لوارګي په جنوب کښې د زخه خیلو افریدیو علاقه.
۶، ۶الف. ښښوبے د بازار نه لویدیز قطب ته په افغانستان کښې د مزي نه په لړه فاصله د ملاګورو کلے دے. ډکه ترې قطب ته ده. او لکه چې اګاهو وضاحت شوے دے د مومندو په علاقه کښې ده. ملا ګوري هم په مومندو ور ګډیږي.
۷. مط ن ا، ن ۵. ن ب و ن و "مهمندي" "مهمندے" دلته مهمندي (چې ختټک دي) څۀ تعلق نۀ لري. او وړاندې وروستو هم "مهمند" راغلے دے.
۸. د مومندو د ګنداب نه شمال مشرق ته او د یوسفزیو د ملاکنډ جنوب مغرب ته د اتمانخیلو علاقه ده. ترې جنوب مشرق ته د مردان د ضلعې بائیزي نومے تپه کښې هم اتمانخیل شته. په باجوړ کښې د اتمانخیلو ارنګ برنګ نومے علاقې د توړتي شمال ته دي.
۹. عبارت مبهم او غیر واضح دے. په هر حال خوشحال خان، ایمل خان او دریا خان پښتنو کښې ښکاره کسان وو او په دیو کښې د چا له خانه د شجاع جوړولو امکان نۀ وۀ. ګوندي دا مطلب وي چې لکه څو کاله اګاهو د شجاع غلبله وه او مغلو وروستو لښکر کشي کړې وه. (ص ۲۵۰، ۲۵۱) نو دۀ پسې به هم دغه شان لښکر کشي وشي.
۱۰. د مردان ضلعې مردان تحصیل کښې د امازو منډو په تپه کښې یوه لویه قصبه چې له هوتي مردانه تقریباً اتلس میله قطب خاتیز ته ده.
۱۱. د دې نوم املا اکثر هم دغسې همزا او همزه راغلې ده. په هر حال حمزه خان یا همزه خان د خوشحال خان د یوې بي بي (د صدر خان د والدې) ورور وۀ. (ص ۲۲۰، ۲۲۱) خو هر کله چې په ص ۲۳۵ ئې د نوم املا حمزه خان راغلې ده او حمزه نۀ صرف د سړي د نوم دپاره ښه معنیٰ ښندي بلکې د مسلمانانو ورسره تاریخي او روحاني تړون هم دے نو قیاس ته هم دغه خبره نزدې ده چې د دۀ نوم به هم حمزه وۀ. د حمزه معنیٰ ده زمرے او همزه له حروف هجا څخښې یو دے په جمع کښې د همزات معنیٰ ده خطرات او د هُمزه معني د نکته چین، عیب جوی سړے یا ارتینه. شاید چې خوشحال بابا عمداً د نوم هجه بدله کړې وي. ولې چې په تاریخ مرصع کښې بې له ص ۲۳۵ دغه خان ته د ستائنې بل کار نۀ دے منسوب شوے بلکې اکثر ئې هم په غندنه ذکر کیږي.

ص۔ ۲۷۹

۱. مط ن ۵ و ن و. ن ا "سکه" چې معنیٰ ئې شاید، غالباً، ګوندي ده.

۲، ۲ الف. "د خان علیین مکان" نه تر "کبنلي ده" د افضل خان عبارت دے. وروسته بیا د خوشحال بابا عبارت شروع کیږي.

۳. خاپښ د مومندو یوه دره ده چې له کرپې او گندابه قطب لویدیز ته پرته ده.

ص ۲۸۰

۱. جمرود د خیبر په جنوب مشرقي خلهٔ کښې د پیښور نه نهٔ میله لویدیز ته او ایلم گودر له پیښوره تقریباً هم دغه هومره لرې سهیل ته دے. جمرود کښې کوکي خیل او ایلم گودر کښې سپاهي افریدي دي.

شرې کیره زما د وړاندې نسخو کښې چرته شیر گرهـ چرته شر کهیرې او چرته شیر گرهي راغلې ده. خو ورسره دلته د آدم خیلو او د هغوي د علاقې آخور ذکر دے او بیا خصوصاً په مخ په ص ۳۰۶ ورته د مومندو کوه دامن ونیل خبره صفا کوي چې هم د شرې کیرې ذکر کیږي چې د اخور په شمال کښې ده.

فدائي خان (سید مظفر حسین) هم د دغو جگړو په دوران کښې په ۷ رجب ۱۰۸۵ هجري (۷ اکتوبر ۱۶۷۴ ء) په ځائے د مهابت خان مرزا لهراسپ د کابل صوبه دار مقرر شو او د راتلونکي کال یعنې ۱۰۸۶ هجري په اوائل غالباً ربیع الثاني (د جلوس عالمگیري اتلسم کال رمضان ۱۰۸۵ هجري) کښې په اعظم خان کوکه مخاطب شو. (مآثر عالمگیري انگریزي ترجمه ص ۸۴-۹۰. مترجم عیسوي تاریخونه د زوړ طرز یا جولیین کیلنډر مطابق ورکړي دي نو بره د نوي طرز یعنې گرگورین کیلنډر مطابق ورکړے شوے تاریخ یعنې ۷ اکتوبر په دغه ترجمه کښې ۲۷ ستمبر دے).

۲. وگوری نوټ ۱

۳. مکرم خان میر محمد اسحق د شیخ میر زوے او د سید امیر خان خوافي ورارهٔ.

۴. شمشیر خان میر محمد یعقوب. د شیخ میر زوے او د سید امیر خان خوافي ورارهٔ.

۵. مط ن ب و ن ۵ (ن ب تر کرلاني). ن ۱ "شباشب ترکر کلانړي" تر کلانے چې په عوامي لهجه کښې ورته تر کانے وائي. خښے دے. (وگوری ص ۱۹۷) تر کانے په باجوړ کښې بیشته او دوه تپې دے. سالار زے او ماموند.

ص ۲۸۱

۱. د خوشحال بابا د بیاض عبارت لکه چې د تاریخ مرصع مؤلف افضل خان وضاحت کوي ،لته ختم شو. وروسته ستائیلے مؤلف د خوشحال بابا یوه رباعي او د هغهٔ سوات نامه رانقل

کوي. سوات نامه په ن ه کښې نشته. اګر کۀ حواله ورته شوې ده او چې کوم انتقاد پرې افضل خان کړے دے. هغه هم لرې. په ن ا او ن ب کښې نامکمله درج ده. له مینځه ئې یوه لویه برخه حذف ده. او په ن ج او ن و کښې بشپړه درج ده. په ارمغان خوشحال (د خوشحال بابا د منظوماتو چاپه مجموعه چې یونیورستي بک ایجنسي پېښور شائع کړې ده) کښې هم شامله ده چې د ن و نه رانقل کړے شوې ده. مونږ له ن و مکمله رانقل او په دغې نسخه کښې مو شامله کړه.

۳. د مردان ضلعې مردان تحصیل کښې له مردانه قطب څخو لویدیز ته تقریباً ۲۵ میله.

۴. زما د وړاندې ټولو نسخو (په شمول د ارمغان خوشحال) کښې "کار".

۵ الف. غالباً د چترال هغه برخه چې اوس ورته کافرستان وئیل شي.

۵. د قافیې په قید به د ختکو لهجې سره سم هم "غاشي" لوستل شي.

ص ۲۸۲

. ن ا "ګل رخسارئ کافر" ن و او ارمغان خوشحال "ګل رخسار ئې کافر".

۲. یعنې په ملک پوچې (هسکونه) اچوي، قرعه اندازي پرې کوي او دغه شان ئې باټلي. (بازي ئې، باخت ئې کوي، مي بازندش)

۳، ۳الف. ن ا "کۀ په سوات کښې به بې خیر وې ورړې ماشي
د منکرو ډیر ورا د بل په چا شي

شعر دغسې مهمل دے. ن ب او ن و سره د مقابلې نه پس سم کړے شو. منګوڼ (م ن ګ و ڼ) مونګن = کتمل، کوتک (فارسي عنسک) بروړه = د مونګن نه لږ غټ لکه د هغۀ یو ازارې چینجے

۴. د خوشحال بابا سخرانه.

۵. ن و او ارمغان خوشحال "کافر کښې ے په" الخ. ن ا "کافرګي په کښې په " الخ. مطلب غالباً دا دے چې برده فروشي پکښې هم کیږي او په شکل و صورت په کښې پلورلے او پیرودلے شي.

۶. ن و او ارمغان خوشحال "مرغاوی ئې د سیند" الخ. ن ا "مرغاوي په کښې د سیند" الخ.

۷. سوات سره د لګیدلې ملک کوهستان نه علاوه ئې (چې کوهستاني خلق پکښې آباد دي) د یوسفزیو علاقې مله کنډ ایجنسي ترې جنوب مغرب ته او بُنیر ترې مشرق ته او دیر ترې مغرب ته دي بُنیر او مله کنډ ایجنسي سره لګیدلے د مردان ضلع ده چې ترې جنوب او مشرق ته واقع ده چې د منډنو علاقه ده. د دغې ضلعې بائیزي نومې تپه کښې اوس اکثر

ختک او اتمانخیل آباد دي. خو لکه چې نوم ئې ښيي یو وخت پرې د بائیزیو یوسفزیو تصرف وهٔ. بُنیر لکه چې د سابق ریاست سوات حصه وه اوس هم د سوات ضلعې حصه ده. مشرق لوري ته د سوات د ملحقاتو حد تر اباسینده پورې تلے دے. شمال مشرق سوات سره لګیدلے د چترال سابق ریاست او اوسنی د چترال ضلع ده چې ښنتانهٔ ورته قاشقار هم وائي (کاشغر سره دي نهٔ مخلوطیږي) دغه علاقه د یوسفزیو نهٔ ده.

۸. مط ن ب. ن ا "ښتن". ن ا او ارمغان خوشحال "بتن" په شمال مشرقي سوات (د کوهستان په علاقه کښې) د اباسیند په سمه غاړه واقع یو کلے. کاشغر ترې شمال مشرق ته واقع دے.

۹. هسې خو مو رنګ د هندوستان د کوچ بهار په مغرب کښې یوه کوهستاني علاقه ده. خو په یقین نهٔ شو وئیلے چې آیا دلته هم هغه علاقه یا بله یوه ترې مراد ده دغه یاد شوے مورنګ د سوات له حدودو جنوب مشرق ته په سلګونو میلو (بلکه زرګونو ته به رسي) په فاصله واقع دے او تبت ئې هم تر مینځه راځي. چې د کاروان ترې له سواته د کوچ بهار د مغربي خوا مورنګ لوري ته د تلو دپاره تیریدل څخو محال لیدهٔ شي. کهٔ دغه "لره بره" لار هم دغه مورنګ لوري ته د تلو دپاره له سواته تیره وه نو له سواته به لداخ ته شمال مشرق لوري او بیا له هغه ملکه جنوب مشرق (زیات مشرق رویه) او بیا نیغه جنوب ته تلله. خو دغه لار به بې کچه اوږده او دشواره وه.

۱۰. ن ا " بیرئیے د وړومبی پیړی معني نسل یا ښنت ده او له دویمې مراد کښیناستو دپاره بونلے شوے چوکی یا کرسی ده.

۱۱. یعنې یوسفزي دي. ن ا "کهٔ ورکزي دي کهٔ بنګښ دي کهٔ یوسف دي". ن و او ارمغان خوشحال "کهٔ ورکزي کهٔ بنګښ او کهٔ یوسف دي".

۱۲. ن و او ارمغان خوشحال "مینار".

۱۳. ن و او ارمغان خوشحال "انتقامه نه شکیب شوم".

صـ۲۸۳

ن و او ارمغان خوشحال "کهٔ".

۲. ن و او ارمغان خوشحال "تر اول به لا په چاره کښې بهتر شم".

۳. ن ا ".تسلیم".

۴. ن ا "ودریږم".

۵. ن ا ".....په سمه غرونو".

۶ ن و او ارمغان خوشحال "....وړے. کۀ ئې زور وو کۀ ئې زر وو ډوړے پرې چاوړے".
۷. ن و او ارمغان خوشحال "همه واړه دي". الخ.

صـ ۲۸۴

ن ا "دوشي" ن و "وشي" ارمغان خوشحال "بووشي".
۲. جګدلي يا جګدلک د جلال آباد مغرب او کابل جنوب مشرق ته يوه دره او مقام.
۳. ن ا "غلجي ښۀ په پوند(غالباً پيوند) توره ووهله". ن و او ارمغان خوشحال "غلجي په پوند توره ووهله".
۴. ن ا "ګرم" ن ب، ن و او ارمغان خوشحال "کرم".
۵و۵الف. مط ن ب، ن و او ارمغان خوشحال.

" زر روپۍ به دې تاوان په يو روپۍ کا
آواره تمامه غوا د غوا په پۍ کا"

۶ ن و او ارمغان خوشحال. "چې ړلی ورته ګوهر شۀ يا ياقوت شۀ".
۷. يو قسم وړوکے ډينګ چې پښتو کښې ورته بغ وائي.
۸. د شولو کښت.
۹ مط ن ا. ارمغان خوشحال. يوسف زئي په دا کښې بد قسمت وه".

صـ ۲۸۵

دغـه صفحه زمونږ د قلمي کتاب د صفحې سره سمه نۀ ده. د قلمي کتاب د صفحې د ختـميدو نه پس هم جاري ده. ځکه چې هغه مواد پکښې راغلے دے چې زمونږ په قلمي نسخه کښې نشته.

مـط ن ا. ن ب "د دنيـا پـه کاروبار کښې ئې غرق دي...... تا په فرق دي". ن و او ارمغان خوشحال "نه د يو ښځې". "نر او ښځې" الخ مطلب دا چې نر او ښځې لوئے واړۀ ټول تر فرقه (تر سره) د دنيا په کاروبار کښې غرق دي.
۲. د هر کلي (خوش آمديد) او سترې مشې کلمه.
۳. ن ا "لکه خلاصه چې له عقله وي کنيزه".
۴. بـنيـادم ئې د اخلاقي ښيګړو نه داسې عاري دي لکه چې په عکس د باغې ميوه دارې ونې د غرۀ پلوسې او ونې غنې له ثمره عاري وي.
۵. مـط ن ا. ن ب، ن و او ارمـغـان خوشحال "يو شان". هر کله چې په وړومبی مصرع کښې قـافيـه "يو شان" ده نو بايد چې دلته "يکسان" وي او کۀ نۀ "يو شان دي". به په دواړو مصرعو

کېښې ردیف شي او شعر به بې قافیې شي. دغسې لکه چې مونږ ه ولیکلو "دي" ردیف او "شان" او یکسان" قافیې شوې.

٦. ن ا "شینکې".

٧. ن ا "مبتلا په څو رنګه پلیدي دي. مزیدي دي عبیدي ندي دي دي". ن و او ارمغان خوشحال "مبتلا په څو رنګه پلیدي دي. مزیدي دي عنیدي دي، ندیدي دي". د دې شعر نه پس او د اخري دیارلس شعرونو نه وړومبے اشعار په ن ا او ن ب کښې نشته. او لکه چې وړومبے عرض وشو (ص ۲۸۱ نوټ ۲) ن د او ن ه ئې هډو د سره لري نه. نو زمونږ د قلمي نسخې (ن ا ص ۲۸۵) به دوباره د اخري شعر په بره له دیارلسم شعره شروع کیږي.

٨. ن و او ارمغان خوشحال "خټکو". هر کله چې په دغه شعر کښې له دغه توري مردا د "خټکے" (خربوزې) جمع ده نو د خټکانو خټکو او د نورو پښتنو (مثلاً خښي غوري او خمند) د تلفظ له رویه هم به د خټک جمع د حرف عامل سره "خټکو" وي خو د "خټکي" جمع به خټک او خښې نورې قبیلې لکه افریدي، ورکزي او بنګښ وغیره هم "خټکیو" کوي. علاوه له دې مصرع به هم دغه تلفظ سره موزونه وي.

٩. ن و او ارمغان خوشحال کښې د دغه شعر مصرعې اړولي دي. زمونږ د نسخې په ص ۲۵۰ په یوسفزیو کښې د جعلي شجاع د ظهور د بیان په لړ کښې افضل خان د سوات نامې دغه شعر راوړے دے نو لکه چې هورې درج دے د مصرعو ترتیب مو ورسره سم کړو

ن و او ارمغان خوشحال "کتر مکرر" د کلمې معني واضحه نهٔ ده. ممکنه ده د هندي اردو او هندکو ""کترنا" سره تعلق لري. او "مکر" د "کتر" تابع مهمل وي. معنيٰ ئې پریکول، قطع کول دي. زمونږه سیمې ته په پښتو کښې هم وړوکے وړوکے پریکولو ته کوتره کول وائي. نو ګوندې د خوشحال بابا مردا دا وي چې میلمه یا میلمانهٔ ورکړه راشي نو د ډیر ښکاره کولو دپاره د چرګ د هډوکیو ډیرې ټوټې سازې کړي.

١١. ن و او ارمغان خوشحال د "همزه د غار". د "همزه د غاړې" الخ یعنې دغه ټول عیبونه راټول کړه او زما د اخښي ملک همزه (یا حمزه) خان د غاړې پسول (کالے، زیور) امیل ئې کړه.

١١ الف. د سړي (ملک) نوم دے وګورئ ص ۲۸۱ او دیوان د قطعاتو او متفرقاتو برخه ص ۸۴۸ (اداره اشاعت سرحد پېښور ایډیشن).

١١ ب. دلته ترې لوښے مراد دے.

١٢. ن و او ارمغان خوشحال "نهٔ ئې کښل زده دي، نهٔ لوستل زده ټکل کا".

۱۳ .یا "چې هیڅ ترس" الخ. ن و او ارمغان خوشحال "کهٔ ترس له خدا_ " الخ دغسې مصرعه ناموزونه ده.

۱۴ .دا نوم چرته د وروستیو لفظ (میان) د وروستیو حرف (م) په حرکت او چرته په سکون استعمال شوی دی. دلته حرکت غواړي.

۱۵ .ن و او ارمغان خوشحال "جوړ کړه تهمت".

۱۶ . "په کښې" او "کښېږدي" کښې په ترتیب د یائے مجهول او یائے معروف قافیې تړلے شوي دي خو یو د خان عظمت نظر د وړاندې هغه د دغسې تصرفاتو مجاز وهٔ بلکه دا چې په لوستو کښې یائے معروف دومره مخفي راځي چې هیڅ فرق ئې له بلې (ے) نهٔ محسوسوي.

۱۷ .ن و "د سوات خلق ئې له کل عالم موړ کړے" ارمغان خوشحال "د سوات خلق ئې کل عالم موړ کړے.

۱۸ .ن و او ارمغان خوشحال. په دواړو مصرعو کښې قافیه "آشکار".

۱۹ یعني امیران، سرداران. ن و او ارمغان خوشحال هم دغسې "امرکان". نهٔ صرف په پښتو کښې بلکې انګریزي کښې هم "امرا" د واحد (امیر) په معنیٰ مستعمل دی. د پښتو په کلاسیکي آثارو کښې ئې جمع "اُم رایان". "اَم راګان"، اُم را ګانان" او "امرکان" هم راغلي ده. د وروستي لفظ تلفظ به غالباً چې اُم را ګان وي نه چې امرګان (اَ مَ ر ګان) لکه چې د پښتو اکیډمی لغت کښې ورکړے شوے دے. په (ر) زور (فتحې) سره په ځائے وړیسې د (ا) نه مصرع زیاته ګرندی لوستل شي.

۲۰ .یعني توئے

۲۱ . ن و او ارمغان خوشحال "بوصري". شرف الدین محمد بن سعید بوصیري د مشهورې عربي نعتیه قصیده بردې مصنف وهٔ. په مصر کښې د بوصیر کلي وسیدونکے وهٔ نو دې دپاره په بوصیري مشهور شو. په ۱۲۱۲ عیسوي (۹-۶۰۸ هجري (کښې پیدا شوے او ۱۲۹۶ء (۹۶-۶۹۵هجري) خواؤشا وفات شوے وهٔ. وګورئ د نکلسن د عربو ادبي تاریخ ص ۳۲۶، ۳۲۷ او د مخزن مقدمه ص (سر) په دغه مقدمه کښې ئې د وفات کال ۶۹۴ هجري (۱۲۹۴ء) لیکلے دے.

۲۲ . یو آذري خو چې د ایران د رے ښار وسیدونکے (رازي) وهٔ. د سلطان محمود غزنوي معاصر او درباري شاعر وهٔ او بل جلال الدین حمزه آذري د خراسان د علاقې وسیدونکے وهٔ. چې ۸۶۶ هجري (۱۴۶۲ء) کښې وفات شوے وهٔ. ډېر کتابونه ئې لیکلي وو چې ځنې دا دي: جواهر الاسرار. طغرائے همایون. ثمرات. بهمن نامه. او د ۳۰ زرو شعرونو دیوان

(قاموس المشاهير جلد ا ص ۳۷۲).

۲۳ .غالباً چې ناصر خسرو د "روشنائي نامۀ" (نظم) او كنز الدقائق (نثر) ليكونكے ترې مراد دے . (قاموس المشاهير جلد۲ ص ۲۵۲ او مخزن ص ۱۱۱)

۲۳ الف. ارمغان خوشحال "مهابات".

۲۳ ب.مولانا عبدالرحمٰن جامي. مشهور او لوے شاعر، عالم او صوفي مفكر په ۸۱۷ هجري (۱۴۱۴ء) د هرات په جام نومې قصبه كښې زېږيدلې وو. په نظم او نثر كښې ئې گن كتابونه ليكلي دي. هفت اورنگ ئې د اوو كتابونو (۱) سلسلة الذهب (۲) سلامان و ابسال (۳) تحفه الابرار (۴) سبحة الابرار (۵) يوسف زليخا (۶) ليليٰ مجنون او (۷) خرد نامه مجموعه ده. په ۸۹۱ هجري (۱۴۸۶ء) كښې د مدينې منورې په لاره كښې حق ورسيدل. وگورئ قاموس المشاهير جلد ا ص ۱۶۵، ۱۶۶ .(قاموس المشاهير كښې تاريخ وفات ۹ نومبر ۱۴۹۲ء مطابق د ۱۸ محرم ۸۹۱ هجري وركړے دے خو ا محرم ۸۹۱ هجري له ۷ جنوري ۱۴۸۶ء سم دے . نو په ۱۸ محرم ۸۹۱ هجري به د جنوری ۱۴۸۶ء ۲۵ تاريخ وي.)

۲۴ . ناست يعني ميشته. استوگن، مقيم.

۲۴ الف.ن و او ارمغان خوشحال "ورته و غربږه". دغسې به شعر معنيٰ نۀ ښندي. لكه چې مونږ وليكلو معنيٰ ئې واضحه ده. يعني چې سپے درته وغرېږي ترې ډډه وكړه. (ترې وغرېږه) او كۀ نه په هيڅ شان ترې خلاصے نۀ وې نو تۀ پرې هم ور ودانگه. وې وهه كۀ په كونتيي، په كاني لوټه او كۀ په لته وي.

۲۵ .ن و او ارمغان خوشحال "بيش" الخ. دغسې معنيٰ نۀ جوړيږي. نيش، لشه يا ډنگ وهل په كار كښې خرابے پيدا كول، مخالفت او دښمني كول دي.

۲۶ .دا گوندې د پير صاحب عرفي نوم وۀ. د ډنگر نه مراد نرے، مانده، لاغر او كمزورے دے .

۲۶ الف. شيتك (بنوڅي) ئې مطيع او فرمان بردار (ايل) وو.

۲۷ .د شاه عيسيٰ مريدان. نصراني ترې نۀ دي مراد. (وگورئ ص ۲۰۲ نوټ ۳ الف)

۲۸. بلوټ خو لكه چې مونږ وړومبے وضاحت كړے دے د ډيره اسماعيل خان ضلعې او تحصيل كښې يو كلے دے. خو شاه عيسيٰ د يوسفزيو پير وۀ. او كۀ د نظر د لاندې بلوټ نه هم ياد شوے بلوټ مراد وي نو د مصرعې تعلق به شاه عيسيٰ سره نۀ وي.

صـ ۲۸۶

۱ . مهابت خان زمانه بيگ د مهابت مرزا لهراسپ پلار . مشر مهابت خان يو ځل د جهانگير

په عهد کښې د کابل صوبه داري کړې وه. زوی ئې يو خل د شاهجهان په عهد کښې او درې خله د اورنگ زيب په عهد کښې د کابل صوبه دار مقرر شوی وۀ.

۲. هزار خوانی د باړې د مومندو د تپې مشهور کلی دی چې له پېښور ښاره تقريباً دوه ميله سهيل ته دی. د حضرت رحمٰن بابا رحمة الله عليه مزار هم د هزار خوانی په هديره کښې دی.

۳. لکه د بايزيد اورمړ د هغۀ د حريف مخالف اخون درويزه شخصيت هم د بحث موضوع او متنازعه فيه دی. هغه کسان چې قوم او وطن دوستي ئې جنون او قوم او وطن پرستی ته رسيدلې ده د بايزيد اورمړ د مغلو سره د مخالفت په سبب د هغۀ د عقيدې د فساد، خرافاتو او هغې مذهبي فعنې نه چې په پښتنو کښې ئې گډه کړې وه سترگې پټوي او وائي چې اخون درويزه چې د بايزيد مخالفت کولو نو د مغلو په لمسون او مرسته ئې کولو خو سوال دا دی چې تر څو د دواړو د مذهبي حيثيت تعلق دی نو خوشحال بابا لکه چې مونږ وړومبی وضاحت کړی دی (ص ۲۰۲ نوټ ۳) د څا په وينا اخون درويزه ته د ايمان ښيونکی او بايزيد اورمړ ته د کفر تلقين کونکی وئيلي دي؟ د خپل نفس په حقله وائي؟

زۀ د درويزه غوندې ايمان ښيم و دۀ ته

دی د پير روښان غوندې د کفر کا تلقين

گوندې کۀ څوک دا ووائي چې کيدی شي چې خوشحال بابا هغه غزل چې دا شعر پکښې راغلی دی هغه وخت وئيلی وي چې د مغلو نوکر وۀ او د اخون درويزه د کار صحيح شعور ئې لا نۀ وۀ درلودی نو د دې خبرې خواب خوشحال بابا پخپله هم په دغه غزل کښې کوي وائي:

دوه شپيتۀ کلونه په حساب لرم خپل عمر

تور ويښتۀ مې سپين شو لا مې زړۀ نۀ دی هيڅ سپين

مغلو سره د خوشحال بابا د مخالفت د آغاز نقطه په وسط جمادي الثاني ۱۰۷۴ هجري کښې د هغۀ گرفتاري وه. دغه وخت د هغۀ عمر دوه پنځوس کاله وۀ. د قيد په دوران کښې ئې هم مغلو سره د منگلو لگولو په زړۀ کښې بند پيوند کولو. په يوې حبسيه قصيدې کښې وائي:

کۀ د سمې کۀ د غرۀ دي يوسفزيه ـ همکې مزري دي مۀ ئې وۀ زوال

د خپل خان صفت به نۀ کړم چې زۀ څۀ يم ـ لړو بړ واړه روباه دي يا شغال

ما د دوي سره د ننگ پالنه ښۀ زده ـ کۀ مو عمر سره تير دی په قتال

د حريف قدر حريف وته ښکاره دی ـ ښيښه گر په ښيښه زده کلال په کلال

قیمتي د قیمتي سره جوړیږي ... په یوه مزي پېیل شي در او لال
که دي ما د دیو سند وبله وشي ... خوک د مور زویه لري د مخ مجال
که خوشحال خټک وار بیاموند په جهان کښې ... خود به وویني د دې چارې مآل

دا قصیده تقریباً د درې پنځوسو کالو په عمر کښې وئیلې شوې وه. لکه چې په اخري شعر کښې وائي:

زر پینځه اویا کلونه د هجرت وو ... په آغاز د نوي کال شو دا مقال

(که د نوي کال د آغاز نه مونږ مراد هم د محرم میاشت واخلو دغه وخت به د خوشحال بابا عمر ۵۲ کاله او نهه میاشتې وه. چې زیږون ئې په ربیع الثاني ۱۰۲۲ هجري کښې وه. او د ګرفتارۍ (وسط جمادي الثاني) به ئې شپږ نیمې میاشتې شوې وې.)

او په یوې قطعې کښې وائي:

پس له بنده دې دا عزم ... د خوشحال د خاطر جزم
یا نیولې مخ مکې ته ... یا مغلو سره رزم
یا یو کنج د غره نیولې ... نمونځ روژه د لوستو بزم

او په یوې بلې قطعې کښې وائي:

چې خلاص کړې خلقې له بنده ... اوس خوشحاله څه شتاب

ته هم ناست ئې په اګره کښې ... دا هم بویه په حساب
خو دا درې دې بله نشته ... اوس اخر دې پیچ و تاب
یا خواه ناخواه منصب دې ... یا یو کنج په لاس کتاب
یا زغ د سپینې تورې ... کوهستان مرجع مآب

بیا تاسو په ۸۰-۱۰۷۹ هجري کښې د لنګر کوټ د تعمیر او وروستې د پښتنو د لوې قومي تحریک واقعات ولوستل د تکرار ضرورت ئې نشته نو د دوؤ شپېتو کالو د عمر نه ډیر اګاهو واقعاتو د خوشحال بابا نه یو قومي سړې جوړ کړے وه. او لکه چې تاسو ولیدل د بحث د لاندې شعر چې په کوم غزل کښې وارد شوے دے، د دوؤ شپېتو کالو په عمر کښې خوشحال بابا ساز کړے وه. خوشحال بابا به د دوؤ شپېتو کالو په ۱۰۸۴ هجري کښې پوره کیدلو او لکه چې تاسو ولوستل د تخت په کوټ کښې ئې یوه قصیده وئیلې ده. (ص ۲۷۱) دا قصیده د خوشحال بابا له ډیرو لویو فنهارو ځنې ده. مطلع او اخري شعر او مقطع ئې دا دي:

پرورده که د مغلو په نمک یم ... د اورنګ له جوره هم له غریوه ډک یم

کهٔ مې عمر په شماره تر شپيتهٔ تير دے　　لا پـه کـار د سـوارۍ لـکـه اوزبک يم
د افـغـان پـه ننگ مې وتـړلـه تـوره　　ننـگيالے د زمانې خوشحال ختک يم

د خوشحال بابا عمر به په ۱۰۸۲ هجري کښې شپېتو کالو ته رسيدو او هر کله چې اخري شعر کښې وئيلي شوي دي چې عمر ئې له شپيتو تير وهٔ. د ص ۱۷۲ نه اګاهو هم د محمد امين خان د شکست نه پس د ههٔ د معزولۍ د مهابت خان (مرزا لهراسپ) د صوبه دارۍ او پېښور کښې د داخليدو سره هم د دې قصيدې ذکر شوے دے. و ګورئ ص ۲۵۶ تر ۲۵۸ نو کيدے شي چې دا قصيده د ۸۴-۱۰۸۳ هجري خواؤشا ليکلې شوے وي. بناغلي لوستونکي به ياد آوري وکړي چې د محمد امين خان واقعه په محرم ۱۰۸۳ هجري کښې وه. بيا پخپله په سوات نامه کښې چې د لوے تحريک د مغلو سره د جنګونو په دوران کښې ليکلې شوې ده او پکښې د اخون درويزه په هجوه کښې ډير شدت هم شوے دے خوشحال بابا د اخون هجوه کونکے د بايزيد اورمړ د خير البيان په حقله خپله رائ داسې بيانوي او ورسره اکبر باچا هم غندي:

درويزه لـه يوهٔ لوريه راپيدا شـهٔ　　په لږ علم په دا ملک کښې لوے ملا شهٔ
چې ئې حال د دې عالم مشاهده کړ　　خپل کتاب ئې په کاغذ مسوده کړ
د روښان خير البيان ئې وهٔ ليدلے　　هغه هم مجهول بيان وهٔ ناپسندلے

پـه هغهٔ آوان اکبر بادشاه بادشاه وهٔ　　واړه خلق د بادشاه سره ګمراه وهٔ

او لکه خوشحال بابا اکبر باچا او بايزيد اورمړ دواړه غندلي دي نو هم دغسې اخون درويزه هم د دغو دواړو غندنه کړې ده. کهٔ بايزيد اورمړ ته ئې کافر، ملحد او ملعون وئيلي دي نو په اکبر بادشاه ئې هم له مذهبي نقطهٔ نظره اعتراض او انتقاد کړے دے. په تذکرة الابرار والاشرار (ص ۱۵۷) کښې وائي ''۔۔۔چون اکبر بادشاه نيز از دين پاک خير البشر عليه السلام انحراف نموده بود انصاف نه کرده وندانست۔۔۔۔'' يعنې او هر کله چې اکبر بادشاه هم د حضرت خير البشر عليه السلام د پاک دين نه رو ګردانه شوے وهٔ نو انصاف ئې ونهٔ کړو او پوه نهٔ شو.

تر څو چې د بايزيد اورمړ د عقائدو، دعوۍ او تعليماتو تعلق دے د هغو په باب مونږ خپل خيال او موقف د دغه نوټ په ابتدا کښې په واضحو الفاظو کښې ښکاره کړو. زمونږ د نوټ موضوع د تاريخ مرصع د مؤلف د انتقاد په رڼا کښې چې په اخون درويزه له خوشحال بابا شوے نکته چيني او هجوې په وجه شوے دے د اخون درويزه شخصيت دے. نو د بايزيد د

عقائدو، دعوؤ او تعليماتو تفصيل او توضيح او پرې بحث نه بلکې چې په کوم نيت او جذبه ئې اخون درويزه مخالفت کړے دے د هغو وضاحت کول دي. د تفصيلاتو د معلومولو دپاره دې د بايزيد اورمړ خير البيان او د اخون درويزه مخزن الاسلام ته رجوع وشي چې دواړه د پېښوړ يونيورسټۍ پښتو اکېډمۍ سره په ترتيب د مولانا حافظ عبدالقدوس صاحب قاسمي او ميان سيد تقويم الحق کاکاخيل د ډېرو فاضلانه او محققانه مقدمو چاپ او خوارهٔ کړي دي.

اګر کهٔ زمونږ په خيال لکه چې مو عرض وکړو په اخون درويزه به دا الزام لګول چې هغهٔ د بايزيد اورمړ مخالفت د مغلو په لمسه او مرسته کولو تيرے وي خو الفضل خان د تاريخ مرصع مؤلف چې د هغهٔ د وفات د سبب په باره کښې کوم انکشاف کړے دے له هغهٔ دا قياس او شبه خو ضرور کيږي چې د مغلي امېرا طورې عهده دارانو د اخون درويزه سادګي يا کمزوري معلومه کړې وه. او هغه ئې په دا آماده کړے وهٔ چې هغوي سره ناستے پاستے کوي او دعوتونه ئې قبلوي. او خوري ئې او دغسې دې مغل د هغهٔ بايزيد اورمړ سره د مخالفت نه سياسي سود او فائده اخلي. کوم فساد او فتنه چې اکبر د دين الٰهي (معاذ الله) په شکل کښې پورته کړې وه هغه د بايزيد اورمړ د فتنه پردازۍ او شر انګيزۍ نه په هيڅ رنګ کمه نهٔ وه. د جهانګير په عهد کښې ئې اثرات تر ډېرهٔ حده پاتې او بنکاره وو. او نتيجه ئې دا وه چې د دغو حالاتو د مسلمانانو په حکومت کښې په اسلام او مسلمانانو د بندو برخلاف حضرت مجدد الف ثاني شيخ احمد سرهندي رحمة الله عليه احتجاج او اقدام وکړ. او د قيد او بند مصيبتونه ئې ځان ونيو. په عکس د دې کهٔ اخون درويزه اکبر باچا هر څو د حضرت خير البشر عليه الصلوٰة والسلام له پاکه دينه برګشته او روګردانه ګڼلو د اکبر د کفر او الحاد او د هغهٔ د زوي په عهد کښې ئې د هغو د اثراتو د وجود برخلاف د هغه جوش او خروش عشر عشير هم بنکاره نهٔ کړ کوم ئې چې د بايزيد اورمړ او د هغهٔ د قماش نورو پيرانو وغيره ؤ برخلاف کولو. بلکې د جهانګير صوبه دار سره ئې په يوهٔ دسترخوان ډوډۍ خوړله.

پاتې شول په مخزن د خوشحال بابا اعتراضات نو دا درې قسمه دي: (۱) اخون درويزه په مخزن کښې د يزيد وکالت او هغه ئې د حضرت امام حسين عليه السلام او نورو اهل بيتو له قتله برې الذمه کړے دے. بلکې دا ئې وئيلي دي چې يزيد د حضرت امام همام او د هغوي د اهل بيت او ملګرو په قتل راضي نهٔ وهٔ. او دا کار د يزيد امراؤ د هغهٔ د مرضۍ نه خلاف کړے دے نو له دې قبله هغهٔ خپل دولس اميران په قصاص ورسول. (۲) چې په آل به رافضي درود وائي (سوات نامه اشعار ص ۲۲۴ـ۲۳۱) او (۳) د مخزن علمي او ادبي بې مائيګي.

تر څو چې د وروستي اعتراض تعلق دے اخون درويزه د مخزن په هغه برخه کښې چې د قصيده امالي ترجمې سره تعلق لري وائي:

"اوس دې هيڅوک پر يزيد لعنت نۀ وائي مګر له ګمراهانو چې په رفض کښې غره دينه بې حده. دوئ وائي دے د حسينؓ په مرګ راضي شۀ دے کافر شۀ. دا خبره بې هوده ده. ولې صحيح خبر دغه دے چې يزيد اهل قبله وۀ مصلي وۀ. دولس امرا ئې پر قصاص کړۀ. د امير حسينؓ پـه مـرګ دے راضـي نـۀ وۀ." (ص ۵) او خپل دغه موقف ئې شخعو په تفصيل په تـذکـرة الابرار والاشرار کښې هم بيان کړے دے. (ص ۲۱۲، ۲۱۳) ليکن قطع نظر د الفاظو د ژباتي د مـواد پـه لـحـاظ ئې حاصل هم دغه څۀ دے. د خپل موقف په تائيد کښې د "شرعة الاسلام"، شرح الامالي المسمیٰ بحر اللالي او خلاصه وغيره حوالې ورکوي.

اګـر کـۀ دا خبـره پـه معتبرو تاري رنو کښې ليکلې ده او د نوي عهد مؤرخينو هم نقل کـړې ده چـې کـوم وخـت قـاصـد يزيد ته د کربلا د حادثې اطلاع ورکړه نو د هغۀ سترګې له اوښکـو ډکې شوې. او وې وئيل چې "زۀ به له تاسو بې د حسين د وژلو هم رضا شوے وم. په ابن سـميـه (عبيـد الله ابـن زيـاد) د خـدائـے لعنت. په الله مې دې قسم وي چې کۀ زۀ ستاسو په ځـائـے وے نو حسينؓ سره به مې نۀ خړوله. الله دې په حسينؑ خپل رحمت نازل کړي." او هـم دغـه شان زاړۀ او نوي مؤرخين د يزيد د اهل بيتو سره د ښۀ سلوک ذکر هم کوي. (اردو ترجمه تاريخ ابن خلدون جلد ۵ سره د مترجم د اضافو په حوالو د ابن عبدربه د عقد الفريد او د ابـن اثيـر د تـاريـخ ص ۱۳۷ تر ۱۴۰. تاريخ اسلام پر ايک نظر ص ۱۳۳، الحسين د علي جلال اردو تـرجـمـه جـلـد ۲ ص ۲۴۷ تـر ۲۵۰، الحسين د عمر ابو النصر اردو ترجمه ص ۱۶۱ تر ۱۶۳)

خـواه کـۀ د اخـون درويـزه دا مـوقف صـحيـح يا غلط دے (مونږ پرې عنقريب بحث کـونکي يو.) هغه ئې واحد اختيارونکے نۀ دے. د هغۀ نه وړومبے او وروستو هم ډېرو مؤرخينو قطع نظر له جزياتو اختيار کړے دے.

پـه دغـې خبـرې د بـحـث کـولو دپاره به سودمند وي کۀ له واقعه کربلا د وړومبے او وروستـو واقـعاتو مختصر جاج واخستے شي. د يزيد بيعت خلقو خصوصاً اهل حرمين په رضا نـۀ وۀ کـړے بـلـکې څۀ په زور زياتي او څۀ په چل ول ترې اخستے شوے وۀ. کوم وخت چې مـروان پـه مدينه کښې د امير معاويهؓ صاحب خط ولوست چې پکښې د يزيد د خپل ولي عهد مـقـررولـو ذکـر وۀ نـو حضرت عبدالرحمٰن بن ابي بکرؓ ورته وفرمائيل چې تاسو دواړه (يعني مـروان او اميـر مـعاويهؓصاحب) د خلافت نه حکومت هرقليه جوړول غواړئ. چې يو هرقل مړ

شي نو بل به ئې په ځائې قائم شي. د دې نه وروسته هر کله چې امير معاويه صاحبؓ د يزيد د خپل ولي عهد مقررولو او د هغهٔ دپاره د بيعت اخستلو کلکه اراده وکړه او عملي کولو لره ئې مرسته شروع کړه نو په دې لړ کښې ئې حضرت عبدالله بن عمر فاروقؓ ته په طور د نذر يو زر درهم وليږل چې هغوي قبول کړل خو چې پسته ورته د يزيد د ولي عهدی او بيعت ذکر وشو نو وې فرمائيل چې زهٔ به خپل دين د زرو درهمو په بدل کښې خرڅ نهٔ کړم. معاويهؓ د زرو دينارو په بدل زما د دين پيرودلو نيت کړے دے. او هغه زر درهمه ئې ورستانهٔ کړل. دغسې حضرت امام حسين عليه السلام او حضرت عبدالله بن زبيرؓ هم د يزيد د بيعت کولو نه انکار وکړو. د دې وجه څهٔ وه؟ کهٔ اخون درويزه هر څو يزيد مصلي (مونځ گزاره) شميري او ستائي ئې خو د تاريخ وقيع او معتبر شهادت صفا د يزيد په بد عملي (چې تفصيل به ئې زر بيان شي) دال دے.

د حضرت علي المرتضيٰ کرم الله وجهه د شروع نه دا خيال وهٔ چې هغوي په مقابله د نورو صحابه کرامؓ د جناب سرور کائنات ﷺ د جانشينی زيات حقدار دي نو د حضرت رسالت مآب ﷺ د وصال نه زر پس ئې د خپل خيال په مرسته کښې د خلافت نبوي دعويٰ هم وفرمائيله. خو هر کله چې امت د حضرت صديق اکبرؓ په خلافت اتفاق وکړو نو حضرت علي کرم الله وجهه نهٔ صرف د امت فيصله قبوله کړه بلکې د هغوي سره ئې په ډيره مينه محبت او عقيدت تعاون او ملگرتيا کوله. او چې جناب صديق اکبرؓ د قضائے الٰهي په تعميل کښې د جنت سفر وکړو نو جناب علي المرتضيٰ کرم الله وجهه چې په هغه موقع کومه خطبه ورکړې وه هغه کهٔ يو خوا د جناب صديق اکبرؓ د رفعت او جلالت شان آئينه داري کوي نو هغوي سره د عظيم المرتبت خطيب د محبت او عقيدت هم هنداره لري. د حضرت خليفه اولؓ د وصال نه پس د جناب علي المرتضيٰ کرم الله وجهه هم دغه رويه جناب عمر فاروق او حضرت عثمان رضي الله عنهما سره هم پاتې شوه. بلکې چې کوم وخت حضرت عمر فاروقؓ د بيت المقدس د تسخير دپاره تشريف وړے وهٔ نو د نيابت فرائض ئې هم حضرت علي المرتضيؓ ته سپارلي وو. نو کهٔ د حضرت علي المرتضيٰ کرم الله وجهه هر څو دا خيال وهٔ چې هغوي په مقابله د نورو صحابه کرامؓ د خلافت نبوي زيات حقدار دي دا خيال او گمان ئې هيڅ کله نهٔ وهٔ. چې ستائيلي حضرات ثلاثه رضي الله عنهم گنه (معاذ الله) غير حقدار يا د دغه وظيفې د ادا کولو اهل نهٔ وو. د دريو واړو حضراتو رضي الله عنهم د ايمان د قوت، د کردار د عظمت د الله جل شانه او د هغهٔ رسول عليه السلام او دين متين سره د محبت نهٔ له جناب علي المرتضيٰ کرم الله وجهه پس له خدايه او رسوله څوک زيات خبر وو، او کهٔ

څوک نورې خبرې کا نو کړې به ئې خو دغسې مصلحت بينې چې دوې ئې يادوې د اسد الله الغالب او امام الاشجعينؓ شان سره کله سمې وې. کۀ هغوې خلفائے ثلاثه رضي الله عنهم (معاذ الله) د حضرت رسالت مآب ﷺ د جانشينۍ اهل نۀ ګڼلے نو کۀ زيات نه نو اويا اتيا کسه خو به ئې لکه د حضرت امام حسين عليه السلام په خپله مرسته راجمع کړې وو.

نو حضرت حسين عليه السلام چې دومره لويه خطره په سر واخسته او سره د خپلو اهل بيعو او ملګرو ئې دومره مصيبتونه او تکليفونه په ځان تير کړل نو سبب ئې هم له هغوې واؤرئ. چې کوم وخت حُر د حضرت امام همام عليه السلام لاره ونيوه نو هغوې ورته داسې خطاب وفرمائيلو:

"په خلقه، رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چې کوم سړي يو ظالم بادشاه وليد چې د الله تعالىٰ محرمات حلالوي، د هغۀ عهد ماتوي د رسول الله ﷺ پيروي نۀ کوي د خدائے تعالىٰ په بندګانو کښې د ظلم او ګناه کارونه کوي او هغه (سړے) ئې هيڅ مخالفت په وينا يا په کړۀ ونۀ کړو نو الله تعالىٰ به هغه له هغه (باچا) وشماري. خبر شئ چې دغو خلقو (يزيد او اميرانو ئې) د الله تعالىٰ طاعت پريښود او د شيطان تابع شول. فتنه او فساد ئې ګډ کړے دے. د شريعت له حدودو ووتل. د غنيمت مال ئې خپل مال وګڼلو، حلال ئې حرام او حرام ئې حلال کړل." الخ ابن خلدون اردو ترجمه جلد ۵ ص ۹۸)

اوس به نو وګورو چې د کربلا په حادثې د يزيد افسوس اخلاص وۀ کۀ سياست، غم وۀ او کۀ د نهنګ اوښکې. (د انګريزی د محاورې پکاررولو دپاره معافي غوارم. مراد ترې د ظالم او خونخوار د مکر اوښکې دي) دغه څۀ به د کربلا د حادثې نه پس د يزيد د کردار په آئينه کښې وګورو. د کربلا حادثۀ فاجعه په محرم ۶۱ هجري (اکتوبر ۶۸۰ ء) کښې شوې وه او په ۶۳ هجري کښې د يزيد له لورې په مدينه منوره کښې عثمان بن محمد بن ابوسفيان امير وۀ. په دغو شپو ورځو کښې د مدينې منورې د خلقو يو وفد يزيد لره لاړ. چې علاوه له نورو کسانو عبدالله بن حنظلهؓ هم پکښې وۀ. يزيد د وفد ډير عزت وکړو. عبدالله بن حنظلهؓ لره ئې خلعت او يو لک درهمه او نورو لره ئې لس لس زره درهمه ورکړل او رخصت ئې کړل چې د وفد عالم مدينې منورې ته راورسيدل او خلق ئې ليدو له راغلل نو په پوښتنه ئې عبدالله بن حنظلهؓ ورته ووئيل چې له يوۀ داسې ناهله راستانۀ شوې يو چې نۀ ئې دين او نۀ مذهب شته. شراب څښي او سندرې او باجې اورې. خدائے ګو کۀ د خدائے له لوريه څوک مهدي وے نو غزا به ئې پرې کړې وه. (ابن خلدون اردو ترجمه جلد ۵ ص ۱۴۱ ـ ۱۴۲) د عبدالله بن حنظلهؓ د وينا په خلقو ډير اثر وشو او نتيجه دا چې خلق له يزيده ويزاره او په بيعت

کولو ئې پښتيمانه شول. عثمان بن محمد، مروان بن الحکم او بنو اميه ئې له مدينې منورې وويستل. يزيد مسلم بن عقبه د دولس زره فوځه سره مدينې ته روان کړ. پخپله ورسره هم تر څۀ مزله په جلب کښې لاړ. او مسلم بن عقبه له د دغه حکم ورکولو نه پس ستون شو چې "د مدينې خلقو لره د دريو ورځو مهلت ورکړه. کۀ په دې دوران کښې هغوې فرمانبردار شول نو وې بخښه گنه په جنګ کښې درنګ ونۀ کړے او چې بر شے نو تر دريو ورځو عام قتلان وکړه. تالا کړے شوے مال اسباب په لښکريانو کښې وويشه. په عليؓ بن حسينؓ غرض ونۀ کړے ولې چې ماته يقيني معلومه شوې ده چې د هغۀ په دغو خبرو کښېهيڅ لاس نشته". د مدينې منورې د خلقو او يزيديانو تر مينځه هغه خونړے جنګ وشو چې په تاريخ کښې د حره په جنګ مشهور دے. يزيديانو فتح وکړه او اهل حق په ظاهر يو ځل شکست وخوړ. په دغه جنګ کښې ۳۰۶ کسان د قريشو او انصارو نه او علاوه له هغو نور ډير خلق چې د دوې ملګرې وو هم شهيدان شول. په جنګ کښې د برې نه پس يزيديان هر لورې ته خوارۀ شول او چې څوک به ئې موندلو، نيولو به ئې او کۀ د يزيد له بيعته به ئې انکار وکړو نو وژلو به ئې. البته په حضرت علي زين العابدين بن حسينؓ چا غرض ونۀ کړو. دغه واقعه په ۲۷ يا ۲۸ ذوالحجه ۶۳ هجري کښې شوې وه. (ابن خلدون اردو ترجمه جلد ۵ ص ۱۴۱، ۱۴۲ تاريخ اسلام پر ايک نظر ص۱۳۴ و ۱۳۵)

د دغې واقعه فاجعه نه پس مسلم بن عقبه سره د نور يزيدي لښکر حضرت عبدالله بن زبيرؓ سره د مقابلې دپاره روان شو. خو په لاره کښې خپل کيفر کردار ته ورسيد. د هلاکت نه وړومبے ئې حصين بن نمير د يزيديانو امير مقرر کړ هغه مکې معظمې ته نزدې ورغے او د مکې معظمې عالم ئې د يزيد د بيعت کولو دپاره وغوښتل. هغوې انکار وکړو نتيجه ئې جنګ وۀ چې پکښې به يزيديانو د مجغنو په ذريعه په کعبه شريفه ګټې غورزولے. اخر ئې آتش بازي وکړله او د کعبې شريفې چت او ديوالونه ئې وسوزيدل. (انا لله و انا اليه راجعون) دغه جنګ ډيرې ورځې وۀ لا خلاص نۀ وۀ چې د يزيد ملعون د هلاکت خبر راورسيد. او حصين بغير د جنګ د فيصلې واپس شو.

چې يزيد مدينې منورې او مکې معظمې ته فوځ ليږلو او په لښکر کښې مجغنې او د اور غورزولو سامان هم وۀ نو اوس به هم دا وئيل کيدل شي چې د يزيد دا نيت نۀ وۀ چې په مدينه منوره يا مکه معظمه دې سنګ باري يا آتش باري وشي او کۀ به وئيل شي نو ورله به دا دليل پيداويږي چې دغه مجغنې او سامان اوغيره مسلم بن عقبه بې د يزيد له علمه له کوره ځان سره راخستے وۀ يا ئې په لاره کښې جوړې پيرودلے وۀ. شهنشاهي سياست دغسې ډيرې

بهانـې تراشلي دي، تراشي ئې او تراشي به ئې. او څکه خو چا د تاريخ متعلق اغراق کړے دے چې پکښې بې د تاريخونو او نومونو هر څۀ دروغ دي. (معاذ الله)

يـو معاصر مؤرخ حتي په مدينة النبي ﷺ کښې د يزيديانو د قتل عام او تالان کولو په حقـلـه بيان غير مستند بولي. (تاريخ عرب ص ۱۹۱، ۱۹۲) خو د خپلې رائ په مرسته کښې ئې هيڅ دليل نۀ دے ورکړے او نۀ ئې د کوم سند حواله ورکړې ده. په هر حال په مکه معظمه د سـنـگ بـارى او آتشبازى په نتيجې کښې مکې شريفې ته د رسيدلي صدمې او نقصان نقشه راښـکـونکے وائي: "د محاصرې په دوران کښې کعبې اور واخست او تر تلې وسوزيده حجر اسـود درې ټـوټـې شـو او د خـدائـے کور لکه د وير ژړليو ارتينو د ښيرو گريوانونو ليدۀ شو." (ايضـاً ص ۱۹۲) پـه حـوالـه د طبـري، فکيهي او ازرقي. د يزيديانو د واپسى نه پس حضرت عبـدالله بـن زبير ؓ کعبه شريفه د نوې سره تعمير کړه. (ايضاً حاشيه ۲) دا صاحب د جليل القدر صـحـابـي حضرت زبير بن العوام (چې له عشره مبشره وۀ) فرزند وۀ. د والدې ماجدې نوم ئې اسـمـاء وۀ. چې حـضـرت سـرور کائنات عليه افضل التحيات والصلوٰة ورله د ذات النطاقين خـطـاب ورکـړے وۀ. د حـضـرت صـديـق اکبـر ؓ لُور او د حضرت ام المؤمنين حضرت بي بي عائشه صديقة ؓ خور وه.

پـاتـې شـوه د يزيد د حضرت امام حسين عليه السلام د شهادت نه پس د هغوي د قتل پـه جـرم کښـې د دولـسـو اميـرانو د قصاص کولو خبره نو آخر ؒ د هغو اميرانو چې يزيد قصاص کـړل نـامـې څـۀ وے او څـوک وو؟ د حـضـرت امـام همامؒ او د هغوي د اهل بيتو او ملگرو د قـاتـلانـو په فهرست کښې خو د عمرو (چې دے د نيک بخت پلار، مشهور صحابي حضرت سـعـد بـن ابـي وقـاص ؓ نـاخلف او بدبخت زوے وۀ) د عبيدالله بن زياد، شمر بن ذي الجوشن، خـولـي ابن يزيد، سنان ابن انس، حصين ابن نمير، مره ابن منقذ، زيد بن رقاد، عمر بن حجاج، عبـدالـرحـمٰـن بـجـلـي، مالـک ابن نسير بدي، حکيم ابن طفيل طائي، عثمان بن خالد جهني، عـمرو ابن صبيح صيداوي نامې جوتې دي. دغه ټول اشقيا د يزيد تر هلاکته په جسماني ژوند ژونـدي وو او د هـغـۀ د هـلاکـت نه پس ټول بې د سنان ابن انس او مره ابن منقذ نه چې دوي ترې په تښتيدلو کښې کامياب شوي وو مختار او د هغۀ سرېو وژلي وو. څنو نورو بدبختانو هم د شهـادت پـه واقـعـه کښې نمايانه حصه اخستې وه لکه عبدالله بن الحصين ازدي، اسحٰق بن حيوٰة حـضـرمـي او خـنـس بـن مرثد خو په دوي کښې هيچا ته يزيد څۀ نۀ وو وئيلي. (وگورئ د علي جلال الحسين جلد ۲ ص ۱۳۴ تر ۱۵۲ او ائمه تلبيس ص ۵۵ تر ۷۸)

اوس نـو کـۀ هم دغه خبرې مونږ واخلو او د يزيد صفائي کونکي وپوښتو چې کۀ يزيد

چرې د امام حسین علیه السلام د هغوي د اهل بیتو او ملګرو قتلولو حکم نهٔ وهٔ کړے او نهٔ د عبید الله بن زیاد او عمرو د ارادو او پروګرام نه خبر وهٔ بلکې چې د کربلا د واقعه فاجعه اطلاع ورته وشوه نو سترګې ئې له اوښکو ډکې شوے او د عبید الله بن زیاد غندنه ئې وکړه او لعنت ئې پرې ولیږلو نو بیا ئې ولې د آل رسول ﷺ او د هغوي د ملګرو قاتلانو له چې ورومبے ئې په هغوي د فرات اوبهٔ بندې کړے بیا ئې په ډیرې بې دردی سره شهیدان کړل. زاړهٔ، خلمي واړهٔ هیڅوک ئې پرې نښودل ماسوا د حضرت علي زین العابدین بن حسین علیهما السلام او د بیبیانوؒ نه. د حضرت امام همام علیه السلام د شهادت نه پس ئې د هغوي په نعش مبارک باندې اسونه وزغلول او حضرت امام زین العابدینؒ او بیبیانې ئې لکه د قیدیانو د یزید دربار ته دمشق لوري ته رواني کړے څهٔ سزا ورکړه یا څهٔ باز پرس قدر ئې ترې هم وکړو، نو دغه د یزید صفائي کونکي به څهٔ ځواب کوي. او کهٔ په اثبات کښې ځواب ورکړي نو د کومو کومو کسانو نامې به وښودلے شي. او کهٔ تپوس ترې وشي چې په دغه دردناکه او افسوسناکه واقعه د ندامت او پښیمانی په صورت کښې د یزید هم دغه عمل او سلوک پکار وهٔ چې کوم هغهٔ مدینې منورې او مکې معظمې او د حرمینو خلقو سره وکړو نو څهٔ ځواب به ترې جوړ شي. راشئ چې د تاریخ د طالبانو په حیثیت د یزید په حقله د څومره حسن ظن نه کار اخستے شو واخلو. نهٔ صرف د زړې او نوې زمانې مؤرخینو دا لیکلي دي (لکه چې تاسو ولوستل) چې یزید ته کوم وخت د واقعه فاجعه اطلاع وشوه نو ډیر غمژن شو او په ابن زیاد ئې لعنت ملامت وکړو. چې هغهٔ دا کار زما د رضا خلاف کړے دے بلکې زمونږ د زمانې یو ډیر لوے مفکر او مفسر اعلم العلماء مولانا ابوالکلام آزاد صاحب مرحوم په خپله یوه اوږده مقاله "داستان کربلا" کښې هم د یزید د دې وینا په حقله چې هغه هیڅکله د اهل بیت په قتل رضا نهٔ وهٔ او هر څهٔ چې ئې کړي دي ابن زیاد د هغهٔ د رضا او خوښې برخلاف کړي دي، د یزید د غم او افسوس د اظهار، او اهل بیت کرام علیهم السلام سره د حسن سلوک په حقله ټول روایات نقل کړي دي. حضرت مولانا ممدوح مرحوم دا روایت هم په خپله مقاله کښې نقل کړے دے چې حضرت بي بي سکینه بنت حضرت امام حسین علیهما السلام به ونیل چې "ما بل څوک ناشکر بنیادم لکه د یزید په شان ښهٔ سلوک کونکے نهٔ دے لیدلے." چې تر څو د دغو روایاتو تعلق دے د تواتر او کثرت له قبله به ئې مونږ له د صحت نه د انکار په مقابله کښې اقرار اولیٰ وي. مونږ به د یوهٔ ساعت دپاره دا هم ومنو چې د یزید اوښکې د نهنګ اوښکې نهٔ وے بلکې هغهٔ ته د اهل بیت رسول الله ﷺ په حالت زار ډیره صدمه رسیدلې وه. ولې چې کهٔ هر څهٔ وهٔ نو مسلمان وهٔ. د حضرت سید المرسلین، خاتم النبیین ﷺ د رسالت

نـه ئي هيڅکله انکار نهٔ وهٔ کړے . او د اهل بيت سره د ديني تعلق نه علاوه د هغوي قريبي رشته دار وهٔ. د هغه د خپلوی نـه عـلاوه تـرور (پهو) ئـي ام الـمؤمنين حضرت ام حبيبهؓ د حضرت رسـالـت مـآب ﷺ حـرم محترم وه. نو دا هر څهٔ چې ئې وي له سياسته نه له صداقته ئې دے .

خـو بيـا هم دا سوال پورته کيږي چې آيا د الله جل شانه په نزد د دين متين اسلام له رويه په بدو نـدامـت، پښيماني او ترې توبه چې د هغو بدو نه لاس راښکل او بيا ئې نهٔ کول دي يزيد کړے وه؟ آيـا د حـادثـهٔ کـربلا نه پس دغه څيز دغه تبديلي د يزيد په ژوند کښې ليدهٔ شي؟ آيا هغهٔ د خـلافت او امامت کشي او ملوکيت پسندی او شهنشاهيت پرستی نه دست کښې کړې وه؟ هـغـهٔ د خپل بادشاهت برقرار ساتلو دپاره په حرمين کښې او د هغو د عالمو سره څهٔ نهٔ څهٔ ونهٔ کړل. کهٔ چرې اهل بيت هم د کربلا نه پس د اصلاح احوال کوشش کړے وے نو هغهٔ به پرې هيـلـه کـړې وه؟ آيا هغهٔ د مسلم بن عقبه مدينة النبي ﷺ ته د ليږلو نه وړومبے دا تفتيش نهٔ وهٔ کـړے چې د حـضرت علي زين العابدين بن حسين عليهما السلام د مديني منورې د عالمو په اقدام کښې خو څهٔ لاس نشته. او مسلم بن عقبه ته ئې نهٔ وو وئيلي چې په هغهٔ غرض ونهٔ کړے ځکـه چې زمـا يـقيـن دے چې هـغه په دغه معامله کښې لاتعلقه دے؟ د حضرت امام همام په شهادت د غم او افسوس د اظهار او په ابن زياد د لعنت ملامت نه پس يزيد د شام امرا رابللي او د هـغوي په موجودګۍ کښې حضرت امام زين العابدينؓ ته وائي: "يه علي هم ستا پلار ما سره خپـلـوي پـريـکړه زما حق ئې هير کړو وې غوښتل چې له ما حکومت وشوکوي نو له دې قبله خدائے هغهٔ سره هغه څهٔ وکړل چې تا وليدل."

د يـزيـد ښـځـه هـنـد بـنـت عبـدالله چې له دغې واقعې خبر شي نو په مخ نقاب اچولے ورچـنـې راوځـي او يـزيد پوښتي: "د مؤمنانو اميره آيا د حسينؓ بن فاطمه بنت رسول الله ﷺ سـر راغـلـے دے؟" يزيد ورته وائي "هو تهٔ ښهٔ وژاړه د رسول الله ﷺ په نمسي او د قريشو په اصيـل ښـهٔ ويـر وکـړه. ابن زياد ډيره تلوار وکړه وې وژلو خدائے دې دے هم ووژني". له دې پسه په مجلس کښې حاضرو خلقو ته وائي: "آيا تاسو خبر ياست چې دا ټول سره د څهٔ نتيجه ده؟ دا د حسينؓ د اجتهـادي غـلـطـی نتيجه ده. هغهٔ وګڼل چې زما پلار د يزيد د پلار نه افضل دے. زمـا مـور د يزيد د مور نه غوره ده. زما مورنے نيکهٔ د يزيد د مورني نيکهٔ نه افضل دے. او زهٔ پـخپله له يزيده افضل يم له دې قبله د حکومت هم له يزيده زيات مستحق يم. حال دا چې د دهٔ دا ګڼل چې د دهٔ پلار زما له پلاره افضل وهٔ صحيح نهٔ دي.(معاذ الله) علي او معاويه يو تر بله وجـنـګيـدل او دنيا وليدل چې د چا په حق کښې فيصله وشوه. پاتې د دهٔ دا وينا چې د دهٔ مور زمـا لـه مـوره غـوره ده. نـو بيشـکه دا صحيح ده. فاطمه بنت رسول الله ﷺ زما له موره ډيره

غوره ده. او هم دغسي د دهٔ مورنيے نيکهٔ زما لـه مورني نيکهٔ افضل دے. خدائے کو چې هيڅوک هم چې په الله او اخري ورځې ايمان لري بل انسان له رسول الله ﷺ افضل يا د هغوي برابر نهٔ شي ګڼلے. د حسين ﷺ اجتهاد غلط شو". الخ.

پس له دې، دې بناغلي لوستونکي پخپله فيصله وکړي چې د يزيد د غم او افسوس او پښيمانۍ او ندامت نوعيت څهٔ وهٔ؟

اوس به څخو د بناغلو لوستونکيو د دلچسپۍ دپاره د يزيد د هغه پورتني وينا په رڼا کښې د اخون درويزه د ايمان او کفر دپاره په تاکلي معيار وازمايو. اخون درويزه وائي: "رسولان واړه بزرګان دي په عالم کښې محمد ﷺ پکښې سرور دے، دغه پس ئې بزرګي د ابوبکرؓ د نبي صديق اکبرؓ دے. يو د اولياؤ پير دے خليفه د مصطفیٰ دے. مرتبه ئې ډيره تيره په اصحابوؓ کښې بهتر دے. پسې بزرګي مې د فاروقؓ چې حق باطل ئې څبله بيل کړهٔ د خطاب زوے عمر دے. پسې بزرګي د عثمانؓ ده چې له خدايه ډير شرميږي هم د دوؤ نورو څښتن دے دې مې زوم د پيغمبر ﷺ دے پسې بزرګي د مرتضيٰؓ ده چې داماد د پاک رسول ﷺ دے. پس لـه درې سره يارانو مرتضيٰ علي حيدرؓ دے. پسې بزرګي د اهل بيتوؓ چې اهل بيت ئې دي عورتې. هم هغه واړه عزيزان چې پاک نبي ﷺ ئې کښيوتلے په نظر دے. پسې بزرګي د اصحابو تابعينو امامانو، عالمانو عملدارو چې په لاس ئې د دې پاک نبي ﷺ دفتر دے. هر چې دا هسې نهٔ ګڼينه يا وروسته به وروميے ياد کا هغه کسان مې رافضي دي چې شيطان د دوي رهبر دے..... تر کافرو دين بتر دے، کافران د ځان دښنهٔ دي. رافضيان د دين دښنهٔ دي." الخ (مخزن ص۱۱٦، ۱۱۷)سره د دې چې د چهار يارؓ د فضيلت په باره کښې د جمهور اهل السنت والجماعت هم دغه عقيده ده خو هغوي صرف دا هيڅکله د تسنن او تشيع او بيا د کفر او ايمان معيار نهٔ دے ګرځولے او نهٔ ئې چرې معاذ الله حضرات اماميه له کافرانو بدتر يا کافران ګڼلي دي. کهٔ څوک چهار يارؓ ټول يو شان واجب الاحترام او د څلورو واړو خلافت برحق ګڼي خو ذوق او رجحان ئې دا وي چې په فضيلت کښې ئې هيڅ فرق نهٔ ګڼي او نهٔ ئې کوي يا په څهٔ سبب ئې خيال او ذوق دې طرف ته مائل شو چې حضرت عمر فاروقؓ يا حضرت عثمان غنيؓ يا حضرت علي المرتضيٰؓ له نورو مبارکو څخو زيات د فضيلت څښتن ګڼي. نو سره د دې چې دا به د جمهور اهل السنت و الجماعت د عقيدې او مسلک نه يو ګونه انحراف ضرور وي خو په سبب ئې هغه کس په شيعه او د جماعت نه خارج هيڅکله نهٔ شي ګڼلے. ليکن کهٔ څوک په ديو څلورو کښې يا په شپږو نورو بشارت يافته ؤ حضراتوؓ کښې له کوم يوهٔ هم امير معاويهؓ صاحب افضل، د زياتې مرتبې څښتن وګڼلو

نو اګر کۀ هغه کس ته کافر خو به هيڅکله ونۀ وئيل شي خو دغه وينا يا خيال به ئې د يوې لويې بې ادبۍ تر حده د اهل السنت والجماعت له عقيدې او مسلکه انحراف وګڼل شي. بلکې نور ګن اصحاب هم شته چې په هغو کښې به هم له کوم يوۀ حضرت امير معاويهؓ غوره ګڼل د تسنن ذوق او مزاج ته صدمه رسوي. خو آيا د اخوند درويزه صاحب د تاکلي معيار له رويه يزيد هغه وخت رافضي او کافر نۀ شو چې کوم وخت هغۀ خپل پلار حضرت امير معاويهؓ د حسينؓ له پلاره بهتر وګڼلو. بيا د کافرانو نه د روافضو د بدتر کيدو دليل هم ډير عجيب و غريب او دلچسپ دے. يعنې کافران د ځان او رافضيان د دين دښمنان دي. خو نۀ پوهيږو چې د دين حق اسلام په مقابله کښې د باطل او کفر د غوره کولو نه بغير کفارو ځان سره کومه دښمني کړې ده يا کوي ئې او کۀ رافضيان د دين دښمنان دي نو دوي ولې کافر او د ځان دښمنان نۀ دي:

بسوخت عقل ز حیرت کہ این چہ بوالعجبی ست

د دې موضوع په اخر کښې به دا وضاحت کول بې ځايه نۀ وي چې د خلفائے راشدين او نورو صحابه کرامؓ په حقله سره د خپل هغه مسلک چې بره ئې مختصراً وضاحت وشو اهل السنت والجماعت د خلافت او امامت مسئله يا د صحابه کرام يو تر بله فضيلت هيڅکله د ايمان له اجزاؤ نۀ دي ګڼلي په خلاف د دې له دغه مسئلو اجزائے ايمان جوړول د حضرات اماميه مسلک دے. هغوي د حضرت علي المرتضيؓ بلا فصل خلافت او د هغوي د اولاد نه امام غائبه امامت د ايمان له شرائطو ګڼي.

تر څو چې په يزيد د لعنت ليږلو سوال دے نو سنيانو کښې چا په هغۀ له لعنه طعنه ورد او وظيفه نۀ ده جوړه کړے خو کۀ څوک ئې د هغۀ د ظالمانه او بدو اعمالو په وجه ملعون وګڼي ورته ووائي يا پرې لعنت وکړي نو په رفض کښې به غره يا غالي رافضي څۀ رنګ شي.

(۲)اوس به د خوشحال بابا دويم اعتراض واخلو اعني چې په مخزن کښې ليکلي دي چې په آل باندې به درود رافضي وائي. ما صرف دا نه چې دا په مخزن کښې ونۀ موندل بلکې د مخزن ابتدا د بسم الله او حمد باري، په حضرت سرور کائنات، د هغوي په آل اصحاب او علماء د صلوٰة وسلام نه کيږي. (ص ۱ عربي عبارت) او بيا په ص ۴۳ د حمد نه پس درود په دغو الفاظو کښې وائي: "درود رحمت په پاک رسول شه چې بنۀ نوم ئې محمد دے هم پر آل به اصحاب پر امتي دغه پسه په عالمانو". بيا ص ۱۱۲ وائي: "هر چې پر يارانو پر اهل بيت به اهانت کا هغه کسان ملحدان دي خوارج يا رافضيان دي." نور هم ځائے په ځائے په مخزن کښې د اهل بيت مدح او صفت او ورته د احترام باج پيش شوے دے. اخون درويزه

صاحب په خاٸے د حضرت رسول مقبول ﷺ ازواج مطهرات، امهات المؤمنين او ورسره حضرت علي المرتضىٰ، خاتون جنت حضرت بي بي فاطمه الزهرا، امام حسن او امام حسين (په وړومبو او وروستو ټولو دې د خداٸے تعالیٰ سلام وي) اهل بيت ګڼي. په خلاف د اهل السنت د مسلک حضرات اماميه ازواج مطهرات له اهل بيت نهٔ ګڼي.(معاذ الله)

اخر اخون درويزه صاحب غوندې متقي او پرهيزګار سړي چې د حضرت شيخ سيد علي ترمذي (بُنير بابا) رحمة الله عليه مريد وهٔ. به ولې داسې خبره کوله چې د انتقاد مورده ده نو دلته دا سوال ورسرهٔ پورته کيږي چې کهٔ هغهٔ نهٔ وه کړے نو اخر خوشحال بابا چې د اخون درويزه صاحب ستاٸنه ئې هم کړې ده او يو ډير صاف ګو او رښتونے سړے وهٔ په اخون صاحب ولې داسې لوے بهتان وايهٔ. د مخزن له هغې چاپې نسخې چې پښتو اکيډمي پېښور نشر کړے او مولانا فضل ودود صاحب ئې په ډيره مرسته او مېنود تحشيه کړې ده په ښهٔ شان ليدهٔ شي چې د مخزن په نسخو کښې سره ډير اختلاف دے. د مخزن په اختتام د کريمداد، عبدالحليم او مصطفیٰ محمد ملحقات دي. مولانا موصوف زما په پوښتنه ماته ووئيل چې دغه ملحقات د مخزن سره ګډوډ ليکلي شوي وو ما ترې رابيل او مخزن سره مې په اخر کښې ضم کړل. لکه چې د مخزن له مطالعې جوتيږي او بناغلي ميان صاحب سيد تقويم الحق کاکاخيل هم په خپله مقدمه کښې پرې وضاحت کړے دے. مخزن الاسلام يو کتاب نهٔ دے. د ګڼو کتابونو مجموعه ده. اخون درويزه صاحب مختصر کتابونه چې د هغهٔ په زمانه کښې مشهور وو څهٔ ټول او څهٔ ټکړې ټکړې راجمع کړې او پښتو کښې ترجمه کړې دي او علاوه د هغو د خپلو مضامينو نه څهٔ مناسبې اضافې ئې ورسره له ځانه هم کړې دي. نو کيدے شي چې د مخزن د کومې نسخې چا ناقل (چې د تشيع برخلاف رد عمل له خوده ويستلے او ليونتوب ته رسولے وهٔ له خپله لوريه ورسره هم څهٔ ټل کړې وو لکه د نظر او انتقاد د لاندې الفاظ او د خوشحال بابا له نظره هم دغسې نسخه تيره شوې وي. والله اعلم بالصواب.

(٣)دريمه خبره د اخون درويزه صاحب په علمي او ادبي استعداد او د هغهٔ په ترجمو انتقاد دے. د اخون درويزه صاحب د مخزن او بيا د تذکرة الابرار والاشرار د مطالعې نه معلوميږي چې هغهٔ نهٔ صرف ديني علومو او عربي او فارسي کښې ئې ښهٔ دسترس لرلو بلکې د پښتنو تاريخ سره ئې هم خصوصي دلچسپي لرله او ځان ئې پرې ښهٔ واقف کړے وهٔ. په تذکرة کښې د پښتنو د سياسي او علمي او روحاني تاريخ په حقله (خواه رجحانات صحيح يا غلط وو) ډير مفيد او قيمتي معلومات دي او اخون صاحب د ديو په فراهم کولو کښې د پښتنو ستر خدمت کړے دے. دا بيله خبره ده چې د هغهٔ ژبه له ادبي نقطهٔ نظره معياري نهٔ وه. خو کهٔ د ژبې له

نـقـطهٔ نظره هم وخيرلے شي نو د هغهٔ تاليفات خواه پښتو يا فارسي د هغهٔ د حريف مقابل بايزيد اورمړ پـه مـقـابـله کښې د يوهٔ زيات تعليم يافته سړي ليکونه ليدهٔ شي خصوصاً (اګر کهٔ زهٔ په دغـه باب د څهٔ وئيلو څان اهل نهٔ ګنړم) د بايزيد اورمړ د عربۍ په حقله خو مولانا حافظ محمد ادريـس صـاحـب مـرحوم د "صراط التوحيد" په مقدمه کښې وائي چې محض تبرک دے. تر څـو چـې د شـعـري او فـنـي مـزايا تعلق دے نو د خوشحال بابا هغه د بوصيري د عربۍ يا خپلو فنکارانه صلاحيتونو په معيار سنجل زياتے دے.

دې کښـې شک نشته (لکه چې د تاريخ مرصع مؤلف او د خوشحال بابا خپل نمسے افـضـل خـان هـم وائـي) د خـوشـحـال بـابـا نـکته چيني او انتقاد د ناګوارۍ تر حده سختي ته رسـيـدلـے دے او سـره د ګـنـو خـوبـو او ډيـر عـظـمـت د خوشحال بابا په شخصيت کښې دا کمزوري موجوده وه چې خفه او غصه به شو نو د اعتدال او توازن په څائے ساتلو نه به پاتې او لـه حـدودو بـه ئـې تجاوز کونکے وهٔ. او بيا د شيخ ميان نور تيرے پرې لا دپاسه. يو خوا خو د مـغـلـو عـامـلانو سره ساز باز (چې پکښې ډير شيعه ګان هم وو لکه امير خان مير ميران، ګنج عـلـي خـان عبدالله بيګ او ملتفت خان مير ابراهيم حسين) او بل خوا د خوشحال بابا د مزاج بـاردو خـانې ته د رفض د فتوې اور ورنزدې کول، د اخون درويزه صاحب د دغې غلطۍ وجه مـذهـبـي تـعـصـب او تنګ نظري وه او د خوشحال بابا په معامله کښې ئې د طبيعت سختي او درشتي سبب وهٔ.

تـر څـو چـې د خـوشـحـال بـابا په سوات نامه او خپلو نورو آثارو کښې د يوسفزيو په حـقـلـه د ويـنـا ګانو تعلق دے نو په ديو کښې چې هغهٔ د يوسفزيو کومې خامۍ او کمزورۍ په ګـوتـه کـړے دي هـغـه کـمـے زياتے په ټولو پښتنو کښې وے او شته او لکه چې هغه پخپله په سوات نامه کښې وائي دغه خبرې په پښتنو کښې تر يوسفزيو محدودې نهٔ دي. ټول پښتانهٔ د جهـل کـان دي البته دوې لا په بل شان دي. ګونډې د پښتنو داسې اولس وې چې تيې ته ئې د خوشـحـال بـابـا د قهـر او سوخت د لمبې تاؤ نهٔ وي ورسيدلے. خوشحال بابا چې د يوسفزيو کـومـه غندنه کړې ده د هغې په باب په څنو خلقو کښې دا غلط فهمي ده چې ګونډې په سبب ئـې د خـوشـحال بابا يوسفزيو سره خانداني او د مرګ دښمني ده. څکه چې يوسفزيو ئې پلار مړ کړے وهٔ. خو د مرګ دښمني ئې صرف د کمال زيو سره وه. په يوسفزيو، يوسف او مندڼ دواړو کـښـې ئـې نـهٔ صـرف دوسـتـان وو بلکې د بائيزو د خانانو درنه کورنۍ ئې سخرانه وه. د خـوشـحـال بـابـا د يـوسـفـزيو سره تعلقات بايد چې په دوؤ زمانو کښې وويشل شي. د قيد نه وړ دمبے (چې د يوسفزيو سره ئې د مغل دپاره او پور اخستو دپاره جنګونه جګړې کولے) او له

قیده وروستو چې خان ئې د یوسفزیو د احسان زیر بار گڼلو. اوس نو مونږه د خوشحال بابا تقریباً د هغو ټولو نظمونو زمانه ټاکلے شو چې د یوسفزیو په حقله ئې پکښې څهٔ وئیلي دي او په کلکه وئیلے شو چې په وړومبي دور کښې به د خوشحال بابا داسې یو نظم هم نهٔ وي چې پکښې ئې یوسفزیو ته بدرد وئیلي یا ورته زیږې کنځلې کړې وي. داسې ټول نظمونه د هغهٔ وخت دي چې یوسفزیو سره ئې روغه شوې وه. او اکثر بدرد وئیل د دوستئ او خپلوی نهٔ د کینې او دښمنئ له قبله دي. په دغه لړ کښې د خوشحال بابا هغه نظمونه هم د نظر د لاندې ساتلې بویه چې په خان د یوسفزیو د احسان او د هغو د میړانې او ښو اوصافو ذکر کوي. یوه نمونه خو مو ئې په دغه نوټ کښې ولوستله یو څو نورې هم وخیرئ:

ډیرو اولسونو غلیمې راسره وکړه سر ئې راته کوز کړو هالهٔ خلاص شو له ماتمه
یو یوسفزے دے چې منت ئې په ما بار کړو لا په اکوزیو د ننګ چار ده مسلمه
زهٔ چې د غعد په کال بندي د اورنګزیب وم کور او خیلخانه مې پکښې ډیره وه له دمه
(دیوان)

یوسفزیه میر افغان دي هم د توري هم د خوان دي
ننګ لري پښتانهٔ واړه ولې ننګ له دیو غواړه
کهٔ په کور کښې ئې نفاق وي بل ته بیا په اتفاق وي
(فراق نامه)

او دا وګورئ:

نولکي شوم هالهٔ لک وم یوسف زیه شوم ختک وم
(ایضاً)

۴. میر ابراهیم حسین (وګورئ د دې صفحې نوټ ۳) په مآثر الامراء کښې د دهٔ په خپله سوانح عمری کښې د دهٔ نامه ابراهیم حسین لیکلې ده. خو د پلار اصالت خان میر عبدالهادي په سوانح عمری کښې ئې د هغهٔ د زامنو د ذکر په لړ کښې نامه محمد ابراهیم لیکلې ده.

ص ۲۸۷

۱. عبدالله بیګ (وګورئ د تیرې صفحې نوټ ۳) بیا د دغو تعیناتو په باب وګورئ زما کتاب "خوشحال خان ختک" اردو ص ۱۸۴ حاشیه ۱)

۲. د خوشحال بابا په کردار کښې لکه د یوهٔ درونـد پښتون د احسان او تعلقاتو لحاظ ساتل جوت لیدهٔ شي. د محمد امین خان سره د خیبر د واقعې په وخت سلوک، د ختکو ورته په فدائي خان د چپاؤ او خزانه تالا کولو مشوره او د دهٔ خواب او دغه د نظر د وړاندې واقعه ئې

خلاند مثالونه دي. خو سره د دې د چا په لاس کښې له لوبيدو هم خان ژغوري.
۳.موشک د ساغريو بولاقو ختکو يوه څانگه ده او ميشک د پيښور ضلعې په نوښار تحصيل کښې يو کلے دے چې د سرائ اکوړه نه په لږه فاصله قطب خاتيز ته د لنډې سيند په کينه غاړه واقع دے. د مغلکيو کلے هم ورته نزدې لويديز ته دے. گوندې ميشک هم د موشک متبادل صورت وي. څنې پښتانهٔ قبائل (و) په (ي) بدلوي.

صـ ۲۸۸

۱.ن ۱ "موشکو". ديوان قندهار چاپ او هوتي ايډيشن "ميشکو". پيښور ايډيشن (ادارهٔ اشاعت سرحد) "موشکو".
۲.د گنبت جنگ په ۹ ذوالحجه ۱۰۸۲ هجري (اواخر فروري ۱٦٧٦ ء) کښې شوے وهٔ خان بابا زخمي شو او بنگښو گټه وکړه.
۳.لکه چې مونږ وړومبے وضاحت کړے دے دغه وخت ئې خطاب اعظم خان کوکه وهٔ. سرکاري مؤرخ مستعد خان د دغه تغير ذکر په دغو الفاظو کوي. د گل په ورځ په څليريشتم محرم د شاه عالم بهادر (د اورنگزيب دويم زوے محمد معظم) په سفارش امير خان (مير ميران د خليل الله خان زوے) د اعظم خان کوکه په ځائے د کابل صوبه دار مقرر شو(مآثر عالمگيري انگريزي ترجمه ص ٩٧) دغه د جلوس د شلم کال رمضان ۱۰۸٧ـ۸۸ هجري واقعه ده. محرم به په ۱۰۸۸ هجري کښې راغې. د څليريشتم محرم متبادل عيسوي تاريخ مترجم ۱۹ مارچ ورکړے دے. دغه تاريخ به په ۱٦٧٧ ء کښې وي. تاريخ د زوړ طرز مطابق دے. د نوي طرز مطابق به ۲۹ مارچ وي)
۴.ن ۱ "بادشاه وهٔ". ن ۵ "شاهزاده وهٔ". لکه چې هم د دغه صفحې په دريم نوټ کښې ونيلي شوي دي د اورنگ زيب دويم زوے او نوم ئې محمد معظم وهٔ. چې اورنگزيب د پښتنو په مهم مقررولو د شاه عالم خطاب ئې ورکړے وهٔ. چې د اورنگزيب د مرگ نه پس بادشاه شو نو د بهادر شاه لقب ئې اختيار کړو. دغه تقرر په ۱٧ شعبان ۱۰۸٧ هجري (۲٦ اکتوبر ۱٦٧٦ ء) شوے وهٔ. د دې نه لږه موده پس مشر بادشاهزاده محمد سلطان وفات شو چې بادشاه ته ئې د وفات خبر په ٧ شوال ۱۰۸٧ هجري په ۳ دسمبر (زوړ طرز نوے طرز ۱۴ دسمبر) ۱٦٧٦ ء ورسيد.
۵. تر څو چې د قيد په وخت د احسان تعلق دے نو نسبت به ئې صرف امير خان ته وي. چې دهٔ د محمد امين خان سره د خوشحال بابا د خلاصي کوشش کړے وهٔ. لکه چې خوشحال بابا وائي:

آفـریـن د میـر جـمـلـه پـه زویـه بـانـدې | چـې نـن دے دے مـیـر بـخـشـي پـه استقلال
کـه هـزار تـورې جـمـدر غشـي وریـږي | دهٔ نیـولـے دے دې مـا پـه سـر خـپـل ډال
بـل میـر خـان د خـلیـل خـان زویـه لیدهٔ شي | بـل د نیـکـو نیـست لیـدهٔ شـي د کـوتـوال

۶. دیوان "لویه پریښوه ونیوله کمه ما".
۷. دیوان "نهٔ راغے
۸. له دیوانه.
۹. مط ن ۵. ن ۱ "یوسف خان".

صـ ۲۸۹

جلال آباد ته نزدې سهیل لویدیز لورې.
۲. ښادي پـور د نـظـامـپـور (ضـلـع پیښور تحصیل نوښار) نه سهیل ته د اباسین په سمه غاړه د کوهاټ د ضلعې کوهاټ تحصیل کښې د خټکو په زیره نومې تپه کښې واقع دے.
۳. د کوهاټ د خټکو په علاقه کښې یو خائے چې اوس ئې آبادي نشته. او نهٔ ئې د محل وقوع تعین کیدلے شي. د کوهاټ د ساغریو خټکو په علاقه کښې د اباسین په نواحي کښې یوه خطه اوس هم غالباً د اوټ میلې په نامه بلل شي خو ابادي نهٔ لرې.
۳ الف. په بله رباعی کښې ئې خوشحال بابا داسې ستائي:

د یـوټ هـوا ده نـن پـه شـاخ زار کښې | زرکـې فـریـاد کـا پـه مـرغـزار کښې
پـه ژغ ئـې ذوق کـا دې مـا بـازونـه | پـرخـه وریـږي گـرخـم پـه ښکار کښې

صـ ۲۹۰

۱. ن ۱ و ن ۵ "ښـادي پـور" د جـنـگ خائے د ښادي پور (وګورئ ص ۲۸۹ نوټ ۲) نه ډیر لرې دے دغـه خـائـے لکـه چـې مـونـږ ولیکلو هم ښادي خیل دے. (وګورئ ص ۳۷۶ نوټ ۳) د کـوهـاټ نه تقریباً یوولس دولس میله سهیل خاتیز ته د کوهاټ ضلعې کوهاټ تحصیل کښې له کوهاټه سهیل څخو خاتیز ته د نهو میلو په فاصله واقع دے.
۳. ملک میرې د بنګښو څانګه ده شیر محمد خان ملک میرے وهٔ.
۴. خوراک، خواړهٔ.

صـ ۲۹۱

شګی (ضلعې پیښور تحصیل نوښار) له نظام پوره قطب خاتیز ته ده.

صـ ۲۹۲

۱. طـاهـر خان د خوشحال بابا زوے وهٔ چې د مهمندیو خټکو له لاسه لکه چې د مرګ بیان به

ئې په مخ راشي مړ وۀ طاهر خان په ۱۰۹۸ هجري کښې قتل شوے وۀ. نو ګويا دغه واقعات د کال ۱۰۹۸ هجري يا ترې د وروستو واقعات دي.

۲. د خلوزيو کلے له پبو تقريباً اووۀ اتۀ ميله جنوب څخو خاتيز ته او له خلوزيو تقريباً شپږ اووۀ ميـلـه سهيل لويديز ته سپين خاک دے چې له ډاک اسماعيل خيلو قطب لويديز ته تقريباً شپږ اووۀ ميله دے.

۳. کاهي يا کهي له شکی قطب څخو خاتيز ته د پيښور ضلعې په نوښار تحصيل کښې ده.

ص ۲۹۳

۱. مط ن ا. ن ب "څاڅو". ن ه "چاچا".

۲. ن ا "کنباتي".

۳. مير کلان ته نزدې مشرق جنوب لورې ضلع پيښور تحصيل نوښار

۴. د مير کلان او چراټ خاتيز او قطب خاتيز ته.

۵. دلته ن ا هم "کنبتي".

۶. مروبه په لږه فاصله له مير کلانه سهيل او له ګاړو سهيل لويديز ته ده.

۷. مط ن ه. ن ا. "د کنبتي د اميرو هومره راستول چې اووۀ ورځې د غليم". الخ کۀ د "ميرے" په ځائے "د اميرو" وي نو امير د خټکنامې مشهور کلے دے چې له مير کلانه قطب خاتيز او له ګاړو قطب څۀ لږ خاتيز ته واقع دے.

ص ۲۹۴

. د مهـراجي نـه جنوب مغرب او خلوزيو نه جنوب مشرق، برشا کوټ نه شمال او کوز شاه کوټ نه شمال څخو مشرق ته ده.

۲. ن ا "قالبوته". ن ب "قالبَ" ن ه "قالبه".

۳. "خنزير پَ دؤ لاړ" = ۱۱۱۰ او "خنزير په دؤ لاړ" = ۱۱۱۵

۴. دي نـه مـعـلـوميـږي چې د بهرام د شکست او د امير خان د وفات واقعې سره نزدې شوے وے. امير خان لـکـه چې پـه مخ به وليدل شي په ۱۱۰۹ هجري کښې وفات شوے وۀ. نو د بهرام د شکست واقعه به غالباً په ۱۱۱۰ هجري کښې وي.

ص ۲۹۵

۱. د نواب بهادر خان روهيله زوے لکه چې په ص ۲۹۶ وضاحت شوے دے.

۲. اټک او خير آباد ته نزدې په اباسين کښې يو ګټ.

۳. وګورئ ص ۲۹۴ نوټ ۳. بايد چې ترې وړومبے سن ۱۱۱۰ هجري وي.

ص ۲۹۶

۱. بهاګ نګر د حیدر آباد زوړ نوم دے. دغه ښار محمد قلي قطب شاه د ګولکنډې باچا د ګولکنډې ښار نه د دریو یا څلورو پینځو کروهو په فاصله آباد او پایهٔ تخت کړے وُه. ځکه چې د ګولکنډې اوبهٔ او هوا ښه نهٔ وه. نوے ښار ئې د خپلې معشوقې بهاګ متي په نامه بهاګ نګر ونوملو. خو پسته ئې ورله د خپل زوي په نامه حیدر آباد نامه کېښوله. خو ډیره موده په عوامو کښې هم د بهاګ نګر په نامه مشهور وُه. (فرشته جلد ۲ ص ۱۷۲، ۱۷۳ منتخب اللباب جلد ۲ ص ۳۶۸، ۳۶۹ و جلد ۳ ص ۳۸۴، ۳۸۵).

۲. اګره.

۳. وګورئ مآثر عالمګیري انګریزي ترجمه ص ۱۷۹، ص ۲۰۶، ۲۰۷، ۲۲۴ او د سرکار هسټري آو اورنګزیب جلد ۳ ص ۵۳ په بادشاهزاده باندې د ګولکنډې د محاصرې په دوران کښې دښمن سره خط و کتابت او ورسره راه و رسم پیدا کولو او د مال غنیمت په شاهي خزانې کښې د داخلولو په ځائے په خپل استعمال کښې د راوستلو الزام وُه. ورسره دوه زامن محمد معز الدین او محمد عظیم هم ګرفتار شوي وو. او خوبنې ښځې نور النساء لره ئې د خواجه سرایانو په ذریعه تنبیه هم ورکړې شوه. د رهایي نه پس وړومبے ملتان ته ولیږلے شو او بیا د کابل په صوبه داری ئې تعیناتي وشوه. تقریباً اتهٔ کاله د عتاب لاندې وُه. وړومبے څلور کاله خو پرې ډیره سخته پابندي وه او بیا د قید او بند سختئ نرمې کړے شوے. تر دې چې مکمله آزادي ورکړل شوه.

۴. امة الحبیب یا امنة الحبیب لکه چې ن ۱ کښې.

۵. ص ۲۹۵ نوټ ۱ سره دې مقابله شي.

۶. مط مآثر الامرا. ن ۱ و ن ب "ا ن ر د" ن ۵ "انپرد".

۷. مط مآثر الامرا. ن ۱ "بوړ سنګهـ". ن ب "بُد". ن ۵ "برسنګهـ". هر کله چې د بوندي والي راؤ بهاؤ سنګهـ هاډا ولد راؤ چهتر سال هاډه په ۱۰۸۸ هجري کښې لاولد مړ شو نو د ورور (بهګونت سنګهـ) نمسے انرودهـ ولد کشن او پس له هغهٔ ئې زوے بدهـ سنګهـ د بوندي والي شو. (مآثر الامرا جلد ۲ ص ۳۰۵، ۳۰۶)

۸. ن ۱ "بقال". نه "بقاول".

ص ۲۹۷

۱. انبیر د جے پور ریاست پخوانے مرکز وُه چې ښار او کوټ ئې له نوي ښار او دارالحکومت جے پوره قطب رویه ورته نزدې واقع دے. بشن سنګهـ ولد کشن سنګهـ ولد راجه رام سنګهـ

ولد مرزا راجه جے سنگهـ کچهواهه.

۲.سوالیه نخبنه ما ولګوله.

۳.آیا د بشن سنګهـ دا خبرې د مغلو او ایراني امراؤ د ناکردو او د حکومت د غلطې پالیسی برخلاف د آزردګی او زمیندارانو سره د همدردی مخلصانه اظهار وۀ او کۀ د هغۀ سازش او تړې د پیدا شوي ماحول لازمي نتیجه وه. چې د شواجي بهونسله غونډې سرے ئې ذمه دار وۀ. دلته به دا یادګیرنه بې ځایه نۀ وي چې د بش سنګهـ نیکۀ کنور (پسته راجا) رام سنګهـ د شواجي د ګرفتاری او نظر بندی نه پس د هغۀ نګران مقرر شوے وۀ او د شواجي فرار د هغۀ د اغماض یا غفلت نتیجه وه. خو بیا هم څۀ موده د عتاب لاندې پاتې کیدو نه پس معاف شو. او چې څنګه ئې پلار مرزا راجا ومړ نو د هغۀ په ځائے ورته د جے پور ایالت وسپارلے شو. په هر حال کۀ د بشن سنګهـ خبرې د هندوانو د ریشه دوانی او سازش (او هغه تړې دانسته یا نادانسته شعوري یا غیر شعوري طور سره متاثره وۀ) نتیجه وے نو ذمه واري ئې په مغلو هم څۀ کمه نۀ وه. له دغې ذمه واری علاوه له نورو وجوهاتو یو سبب دا وۀ چې اورنګزیب کښې سره د ډیرو خوبیو ځنې نقصاني خویونه وو او له هغو یو په حیثیت د شهنشاه د خپل ذاتي وقار له حده تیر خیال ساتل او په دغه لړ کښې هیڅ مصلحت نۀ قبلول وۀ. بل چې تر څو د پښتنو تعلق دے نو سره د دې چې د بحث لاندې زمانه کښې په هندوستان کښې د مسلمانانو د حکومت برخلاف د هندوانو او غیره ؤ سرګرمی ډیرې تیزې وے خو حکومت هیچرې د دې خبرې خیال نۀ وۀ ساتلے. چې د اسلام په نامه او په حیثیت د دیني ورونو پښتنو ته رسائي وکړي. د مغلو حکومت موروثي یا خانداني شخصي حکومت وۀ چې هم د یوې خاصې کورنۍ سرے به پکښې بادشاه کیدے شو. د اسلامي او ملي مفادو نه پکښې زیات د ذاتي او خانداني مفادو او اغراضو خیال ساتلے شو لکه چې عام طور سره په شخصي حکومتونو کښې وي. دې کښې شک نشته چې د مغلو یو داسې حکومت وۀ چې پکښې د مختلفو قومونو مسلمانانو او هم دغسې د مختلفو قومیتونو هندوانو ملازمتونه او مناصب درلۀ خو دا په هیڅ معنیٰ کښې نۀ د مغربي او نۀ له اسلامي تعریف له رویه جمهوري حکومت وۀ. په دې لړ کښې دې د نورو معلوماتو دپاره د شیخ محمد اکرام صاحب کتاب "رود کوثر" مقاله خوشحال خان ختک او هم زما کتاب خوشحال خان ختک ص ۱۱۱ تر ۱۵۹ ته هم رجوع وشي.

۴.ن ا و ن ب "حسن ننګي" ن ه "حسن تنګي". "سین تنګے" د بنو نه جنوب مغرب ته تقریباً ۱۵ ـ ۲۰ میله لرې د جاني خیلو وزیرو په حد حدود کښې واقع دے.

ص ۲۹۹

۱. بلند خيل د بنگښنو يوه تپه ده.

ص ۳۰۰

. د بارړي د مومندو مشهور کلے چې له پېښوره سهيل ته تقريباً د شپږو ميلو په فاصله د پېښور کوهاټ سړک (له پېښوره) په کيڼه غاړه پروت دے. تاڼه ئې د سړک سم لاس ته ده.

ص ۳۰۱

. په کُرمه کښې د پاړه چنار نه په لږه فاصله خاتيز لوري لوئے او مشهور کلے. په کرمې کښې هسې خو زيات توري او بيا بنگښ آباد دے خو پکښې پاړه څمکنے هم شته چې غوريه خيل دے او غالباً چې زيړان کلي هم د زيړانو غوريه خيلو وي.

۲. له زيړانو په لږه فاصله جنوب رويه.

۳. يعنې نرياب. د هنگو مغرب، د دوآبې شمال او د درسمند او ټل شمال مشرق د بنگښنو مشهور کلے دے.

۴. د خرم (خرم محمد زئ او څنډه خرم) تشريح وړومبې شوې ده. چختو (چې اکثر په قلمي نسخو کښې خچتو ليکلې شوے دے) د تخت جنوب ته او د څنډه خرم شمال مشرق ته ورته نزدې پروت دے.

ص ۳۰۲

. ناصر خان محمد امان د حسين بيگ خان زوے.

۲. د اوانړو باغ يعني کالاباغ.

۳. د خوترې د علاقې جنوب کښې د تل د علاقې مشهور کلي ټټي نصرتي مشرق ته او د خوترې د مشهورې قصبې کرک (چې اوس د ضلع کوهاټ د کرک تحصيل صدر مقام هم دے) جنوب مشرق ته.

ص ۳۰۴

. لکی د بنو په ضلع کښې د مروتو علاقه ده. د تحصيل صدر مقام لکی قصبه د بنو له ښهره جنوب ته واقع ده.

ص ۳۰۵

. د دغه ځائے محل وقوع د بنو او لتمر ترميان ښودلے شوے دے. لتمر د کوهاټ د ختټکو په علاقه کښې د کرک نه مغرب او بنو نه شمال مشرق لوري د بنو ضلعې حدود ته نزدې د کوهاټ ـ بنو سړک د پاسه واقع دے.

ص ۳۰۶

۱. سرولم. مخکښې او وروستو.
۲. زما په مخکښې په ن ۱ کښې "زر سل پينځۀ ويشت" (۱۱۲۵) دے خو سياق او سباق سره سمون نۀ خوري. بايد زر سل پينځلس (۱۱۱۵) وي. وګورئ ص ۳۰۷ چې راتللونکې کال پکښې زر سل شپاړلس درج دے.
۳. زما په مخکښې اصل عبارت (ن ۱) "مهمنديو".

ص ۳۱۰

۱. سيد محمد صادق فتح الله خان چې د خوست له ساداتو وۀ.
۲. د دوو خلو تشريح وړومبې تيره ده. دوړان له دوۀ خُلو په لړه فاصله جنوب ځنځو مشرق ته واقع د ختټکنامې کلے دے. زيارت کاکا صاحب ترې مغرب ته دے.

ص ۳۱۴

۱. افغانستان کښې د پيش بولاک شمال مغرب، د باسول مغرب، د چارده جنوب، د سياه چوب شمال کښې د جلال آباد نه جنوب مشرق ته واقع دے.
۲. تورډهيرے د مردان ضلعې صوابۍ تحصيل کښې د جهانګيري او صوابۍ تر مينځه واقع دے.

ص ۳۱۶

۱. يعنې بادشاهزاده شاه عالم.

ص ۳۱۸

۱. اورنګ زيب په ۲۸ ذي قعده ۱۱۱۸ هـ (۳ مارچ ۱۷۰۷ء) حق رسيدلې وۀ او پيښور ته ئې د وفات خبر په ۲۷ ذوالحجه رارسيدلے وۀ.

ص ۳۱۹

۱. جاجو د آګرې او د هولپور په مينځ کښې له وړومبې ځايه سهيل او له دويمه شمال ته واقع دے. د جاجو خونړے جنګ په ۱۸ ربيع الاول ۱۱۱۹ هـ کښې شوے وۀ.
۲. پنجابې ده يعنې چې ډمه (رقاصه) له ځايه وخوزې نو بې آهنګه ګډيږي.

ص ۳۲۱

۱. د کوهاټ ضلعې کوهاټ تحصيل کښې له کوهاټ ښهره تقريباً شپږ ميله سهيل لويديز ته.
۲. دا هم د جاجو جنګ دے چې بيان ئې وړومبے وشو.
۳. يعنې ابراهيم خان يا ابراهيم بيګ.

ص ۳۲۲

. د لاهور ضلعې د قصور صدر مقام او له لاهور بنهره سهیل ځهٔ لږ خاتیز لوري.

ص ۳۲۳

. ن ا، ن ب، ن هـ "بادشاه گردشي دے"

۲. یعنې نرے او غټ. ن ا "نرے پړه" ن با "نرے پرزه".

ص ۳۲۴

. ن ب "العادة لا یرد الاّ بالموت".

"علت ولاړ شي د سرې نه عادت نهٔ ځي

خدائے دې نهٔ کاندي په بده چار عادت څوک"

(رحمان بابا)

۳. شاه ډهیري یا سرائے کالا د حسن ابدال نه جنوب مشرق ته. (ټیکسلا)

۴. د پېښور ضلعې نوښهر تحصیل کښې . له نوښهره شمال مغرب او له پېښوره شمال مشرق ته. دلته د پښتونخوا مشهور ولي الله حضرت شیخ عبدالوهاب عرف اخون پنجو رحمة الله علیه مزار دے چې په قام ترین پښتون وو، وائي چې دوي د حضرت کاکا صاحبؒ د والد ماجد حضرت شیخ بهادر دین صاحب رحمة الله علیه پیر وو او دا چې دوي ورله بشارت ورکړے وۀ چې له تا به یو فرزند زیږي چې د ډیرې لوئې مرتبې او درجې څښتن به وي.

۵. ن ب "مصالحه ئې په کښې واچوله".

۶ و ۲ (ا). کیدے شي چې براه راست پېښور ته د راتلو په ځائے وړومبے نوښهر ته او له هغه ځایه پېښور ته راغلے وي. د محاورې مطابق به له ښهره مراد پېښور ښهر وي.

ص ۳۲۵

. د پېښور ضلعې پېښور تحصیل کښې له پېښوره تقریباً دیارلس څوارلس میله شمال ځهٔ لږ مشرق ته د سړک په سمه غاړه. ورسره نزدې د سړک په کینه غاړه کوچیان دي. د داؤدزو د امنے زیو اربابانو کلي دي.

ص ۳۲۹

۱ و ۱ الف. دلته په اصل کښې هم هجه هم دغسې ده.

۲. یعنې افضل.

ص ۳۳۰

. یعنې د دواړو ولیو، ولی او کمې ولی په لښتي.

ص ۲۳۱

د سرای اکوړه جنوب ته بره ایسوړو ته (چې پکښې د خوشحال بابا مزار دے) نزدې جنوب مشرق لوري.

۲. اوتک یا هوتک د غلجیو څانګه ده.

۳. د "خدکي سلطان" مفهوم ته د رسیدلو دپاره به د ابدالیو په شجره نظر اچول غواړي. د ترین (ولد شرخبون ولد سړبن ولد قیس) درې زامن تور، سپین او اودل وو. د تور او سپین اولاد ترین وبالۀ شو او د اودل اولاد اودلي یا ابدالي. د اودل د زوي عیسٰي زوے سلیمان عرف زیرک د پوپلزیو، بارکزیو، علیکوزیو او موسٰي زیو مورث وۀ. په پوپلزیو کښې د عمر نومې یوۀ سړي زوے سدو نومیدو چې د سدوزیو مورث دے. د سدو په پینځو زامنو کښې خضر خان ډیر نیک او د عزت خښتن وۀ. سدو د خپل وفات نه آګاهو خواهش لرلو چې خضر خان خپل جانشین کړي خو پښتنو (اودلیو) مشرانو د سدو د مشر زوي مغدود خان په حق کښې خپله رائ ظاهره کړه خو چې سدو وفات شو نو د قبیلې د عالمو د اکثریت د رائ په مرسته هم خضر خان مشر وټاکلے شو. د هغۀ د وفات نه پس ئې زوے خداداد د قبیلې مشر شو او ونیل شي چې دے وړومبے سړے وۀ چې د سلطان لقب یا خطاب ئې درلۀ او "سلطان خدکے" بالۀ شو ("احمد شاه دراني" د ګنډه سنګهـ تالیف ص ۱، ۲ سره د حاشیې او "احمد شاه دراني" د سید نصیر احمد تالیف ص ۲۵)

۴. زما د وړاندې نسخې "مغل"

۵. زما د وړاندې نسخې "اولاده".

ص ۲۳۲

ن ب "درې امرا ګانان صوبه دار د حیات سلطان په مهم حکم کړه".

۲. زما د وړاندې نسخې "مغل".

ص ۲۳۳

. یعنې صفاهان، اصفهان. د ایران مشهور ښهر او د صفویانو په عهد کښې ئې پایۀ تخت.

۲. زما د وړاندې نسخې "مغل".

۳. په دغه معامله کښې د بهادر شاه (اول) دورنګي په یوۀ وخت هم ډیره افسوسناکه او هم دلچسپه ده. دغه قصبه د مآثر الامرا د مؤلف په الفاظو کښې واورئ:

"درسنه هزار و یک صد و بست هجری هنگامے که ګرګین خان بقصد تنبیه کاکری در مقام ده شیخ بیرون قندهار بود برور یخته اسیر ګردانیده کارش به اتمام رسانید و در قندهار مستقل شده عرضداشت با کلید طلا پیش خلد منزل ارسال داشت و اظهار رسوخ نمود. پادشاه

مزبور کہ خواہش موافقت بادشاہ ایران داشت و برائے رفع کدورتے کہ مابین خلد مکان وشاہ عباس ثانی بنابر نارسائی تربیت خان ایلچی بمیان آمد توطیہ ہا می انگیخت صلاح وقت دانست اورا بہ منصب پنج ہزار و خطاب پادشاہ نواز خان برنواختہ سند قلعہ داری قندہار فرستاد و بدست تجار بہ شاہ حسین پیغام داد کہ افغان نمک حرام سلوک نالائق بہ آن درگاہ بعمل آوردہ می باید آنچہ لازمہ کیفر او باشد زود بدان پر دازند واز کمک اینجا خاطر جمع دارند"۔ (جلد ۳ص ۲۰۷ د مکمل مضمون د پاره وګورئ ص ۲۰۱ و ۲۰۷).

"خلاصه مطلب دا دے چې کوم وخت میرویس ولګید ګرګین خان ئې مړ کړ قندهار ئې ونیو او استقلال ئې پیدا کړو نو خلد منزل (بهادر شاه) ته ئې خط په طور د خپلې وفاداری او دوستئ د اظهار ولیږلو. بهادر شاه ورله پنجهزاري منصب او د بادشاه نواز خان خطاب ورکړو او د قندهار د قلعه داری سند ئې هم ورولیږلو خو بل خوا هر کله ئې چې د ایران بادشاه سره دوستي کول او د هغهٔ خفګان ئې نړې کول غوښتل چې د خلد مکان (اورنګ زیب) او شاه عباس ثاني د اختلاف له قبله پیدا شوے وهٔ نو د سوداګرو په ذریعه ئې د ایران بادشاه شاه حسین ته خبر ورکړو چې دغه نمک مرداره پښتون نالائقه کار کړے دے باید چې ورله سزا ورکړل شي. له دغه لوریه د کومک په حقله خاطر جمع لرئ".

ص ۳۳۴

. مطـ ن هـ. ن ا "زر سل شلور". ن ب "زر صل شل شلور"

۲. میرویس په ۱۱۲۷ هـ (۱۷۱۵ء) کښې حق رسیدلے وهٔ. دوه فرزندان میر محمود او میر حسین ترې پاتې وو. مشر میر محمود خواؤشا د اتلسو کالو وهٔ. او بل ترې یو کال کشر وهٔ. هر کله چې دواړه د لږ عمر وو نو غلجیو سپین ږیریو د مرحوم ورور میر عبدالله مشر کړو. (کیرو دي پټهانز ص ۲۵۱) ئې نامه عبدالعزیز لیکلې ده. خو ما ئې نامه "د تاریخ مفصل ایران" ص ۴۰۸ او د میلي سن د "هسټري آو افغانستان" ص ۲۳۴ په بنا میر عبدالله ولیکله د سید نصیر احمد د "احمد شاه دراني" ص ۳۰ له رویه ئې نامه عبدالعزیز ده. او عبدالله ئې هم ورته ونیل) خو متاسفانه میر عبدالله ډیر کمزورے او بې زړهٔ سړے وهٔ. د خپل مرحوم ورور د لوېې کارنامې نه د براخستلو په ځائے ئې د ایرانیانو سره ساز باز شروع کړ کم عمره محمود چې د خپل ستر پلار لوړ عزم، غیرت، حمیت او میړانه ئې لرله. ځنې پښتانهٔ مشران د خان سره کړل او میر عبدالله ئې د لږې مودې د نامې د مشرۍ نه پس ووژلو. میر محمود د خپل پلار ګټه نهٔ صرف سنباله کړه بلکه د دغې د ساتنې دپاره ئې ضروري وګڼل چې د ایران په زمکه د ایرانیو زور مات کړل شي نو په ایران ئې حمله وکړه. د ګلناباد په مشهور جنګ کښې او نورو مقابلو کښې ئې ایرانیو له شکست ورکولو نه پس د اصفهان محاصره وکړه او فتح ئې کړو. د ګلناباد په جنګ کښې د ایراني فوځ د کثرت، شان و شوکت او سازوسامان

او د پښتنو د ظاهري بې سروساماني نقشه د نوي دور يو ايراني مورخ په دغو الفاظو کښې راکاږي:

-----''سلطان حسین پنجاه ہزار لشکر بابست عرادہ توپ در مقابل محمود فرستاد۔ لشکر ایرانی دارائے لباس ہائے فاخرہ بود و اسپان آنہا لگامہائے زرین داشتند و وسائل راحتی آنہا از ہر حیث فراہم بود۔ برعکس لشکر افغان دارائے لباس پارہ و اسپہائے لاغر بوند۔ اوضاع لشکر ایران وافغان و جنگ گلناباد درست زمان یزدگرد سوم و سپاہ ایران و جنگ قادسیہ را بنظر می آورد چہ در آن اوقات ہم عرب ہائے برہنہ باسپاہیان باشکوہ وجلال ایرانی برابر شدند''۔

(تاريخ مفصل ايران د دکتر عبدالله رازي ص ۴۰۹ و ۴۱۰).

يعني "......سلطان حسين.....پنځوس زره فوځ سره د شلو ګټو غورزونکو مشينونو د محمود مقابلې لره وليږلو. د ايراني فوځ جامه ډيره شانداره وه. او د اسونو واګې ئې زرينې وې او د سوکالۍ هر قسم سامان ئې درلۀ. په عکس پښتنو شليدلې جامې اغوستلې په ټېو اسونو سوارۀ وو. د ايراني او پښتون فوځ اکربکر او د ګلناباد جنګ کټ مټ د دريم يزدګرد زمانه او د قادسې جنګ تر نظره راوستلو چې هغه وخت هم شليدلې جامې اچولې عرب د ايران د ډير شان و شوکت لرونکي فوځ ته مخامخ شوي وو.

(کۀ ډاکټر صاحب د "عرب هائے برهنه" په ځائے څۀ نور الفاظ استعمال کړے وے نو ښه به وه مثلاً لکه چې اول ئې د پښتنو لباس لره "پاره" لفظ استعمال کړے دے. د ډاکټر صاحب د دې بې تکلفي وجه په اسانه قياس کيدے شي. نو ما په مطلب کښې ئې له څۀ فرق راوستلو له لفظي ترجمې خان وژغورلو. ولې چې د بې ادبۍ احتمال وۀ. بل دا چې د قادسيې جنګ چې د حضرت فاروق اعظم رضي الله تعالیٰ عنه په مبارک عهد کښې شوے وۀ د عرب او د ايران جنګ نه د دوو قومونو يا ملکونو مقابله نه بلکه د نظرياتو او د ژوند د نظامونو تصادم وۀ)

شاه محمود د ايران يوه لويه حصه فتح کړه خو يو خوا په ايران د روسيانو او بل خوا د عثماني ترکانو هم نظر وۀ. ديو مشکلاتو سره شاه محمود په سخته دماغي عارضه کښې هم مبتلا شو. د اصفهان د فتح نه تقريباً درې کاله پس په ۱۱۳۸ هـ (۱۷۲۵ ء) کښې حق ورسيد. پس له وفاته ئې پښتنو مشرانو د مير عبدالله زوے مير اشرف باچا کړو. هغه هم يو قابل سړے وۀ. او د خپل پينځۀ کاليز حکومت په دوران کښې د متواتر جنګ او جدل نه وزګار نۀ شو. نو آخر په اواسط ۱۱۴۳ هـ (جنوري ۱۷۳۱ ء) کښې ورله طهماسپ قلي خان چې پسته د نادر شاه په نامه مشهور شو شکست ورکړو. او دغسې د پښتنو حکومت په ايران کښې ختم شو. اشرف چې له ميدانه خان ويستلے وۀ د سرګرداني په حالت کښې د يوۀ بلوڅي له لاسه ومړ.

(ميلي سن د دغې واقعې تاريخ د خپل کتاب "هسټري آو افغانستان" په ص ۲۵۵ پنځلسمه جنوري ۱۷۳۰ ء ورکوي خو په ص ۲۵۷ او ص ۲۵۹ ئې ۱۵ جنوري ۱۷۳۱ ء ليکي. خو کيرو "دي پټهانز" ص ۲۵۲ او سيد نصير احمد "احمد شاه دراني" ص ۳۱ ئې کال هم ۱۷۳۰ ء ليکي.)

ډاکټر عبدالله رازي ليکي چې پښتانه د محمود له اطوارو تنګ شول اشرف ئې چې محمود له قندهاره راغوښتے وه بادشاه کړ. او وائي چې د يوه روايت له رويه محمود د هغه په وينا قتل کړلے شوے وه. (تاريخ مفصل ايران ص ۲۱۳).

مير محمود (شاه محمود) چې په ايران حمله کوله نو خپل کشر ورور مير حسين ئې په نيابت قندهار کښې پريښے وه. ميرحسين لکه د خپل لوئے پلار او ستر ورور په شان يو بهادر او قابل پښتون وه. او په ډير ښۀ شان ئې د ورور په ژوند او د هغۀ د وفات نه پس ئې په قندهار حکومت وکړو. د دۀ د حکومت په دوران کښې د قندهار تجارت، دولت آبادی او ودانی ډيره ترقي وکړه. نادر شاه چې له نورو خبرو فارغ شو. نو قندهار ته ئې پام وکړو. له ميرحسينه ئې د اطاعت مطالبه وکړه خو دغه ښاغلي پښتون بې له مقابلې او جنګه د خپلې آزادی د ورکولو نه انکار وکړو. د ډيرې سختې او وږدې مقابلې نه پس آخر پښتانۀ په دغه خبره مجبور شو چې نادر شاه سره مصالحت وکړي. لکه چې کرنل ميلي سن ليکي نادر شاه د پښتنو له ميړانې ډير متاثر شوے وۀ. هغۀ په فراخدلی پښتنو سره روغه وکړه او قندهار ئې مير حسين ته د خپل نائب په طور وسپارۀ. دغسې په قندهار کښې د پښتنو ازاد حکومت په ۱۷۳۸ء (اوخر ۱۱۵۰هـ) کښې ختم شو خو دغې واقعې نه تقريباً نهۀ کاله پس نادر شاه ايراني سردارانو چې د هغۀ د تيرې او زياتې نه تر پوزې راغلي ووژلو او احمد شاه بابا چې سره د خپلو ډيرو ابداليانو ئې د نادر په فوځ کښې اهم او معتبر فوځي منصب او حيثيت لرلو پښتنو نخوا له ايرانيانو ازاده کړه. او د پښتونخوا هغه علاقې ئې هم په خپل تصرف کښې راوستلې چې د مغلو يعنې د دهلي د تخت او تاج د سيوري لاندې وے. (وګورئ "تاريخ مفصل ايران" د ډاکټر عبدالله رازي ص۲۰۷ تر ۲۱۱، "هسټري آو افغانستان" د کرنل ميلي سن ص۲۲۷ تر ۲۶۶. "دي پټهانز" د کيرو ص ۲۴۹.۲۶۳).

۳. عيسي په خټه ماشوخيل مومند وۀ وګورئ ص۳۱۵. د مومندو د روايت له رويه هم جمال خان د مسريزو (مشترزو) وۀ چې د ماشوخيلو، ماشوګګر او اديزو خلقو (چې سره مومندو کښې نزدې عزيزان دي) پرې چپاؤ کړے وۀ. (وګورئ زما کتاب رحمان بابا ص ۵۲ تر ۵۹ خصوصاً ص۵۵).

۴. دا هم هغه واقعه ده چې رحمٰن بابا، عبدالحميد ماشووال او عبدالقادر خان پرې نظمونه ليکلي دي چې په ترتيب له ديو شعرونو ئې ابتدا کيږي:

(۱) رحمان بابا: 'ډير ياران وو د ګل خان د جمال خان

په کار نۀ شو يو په وخت د زارستان

(۲) عبدالحمید: هر سردار چې د خپل قام د بدوخیال کا
آئینه دې د خپل خان حال د جمال کا

(۳) عبدالقادر خان ختټک:

دا کارونه چې نن ګانده عیاني دي | هیڅ په خوا په خاطر نهٔ وو اسماني دي
نن نسیم د پیښور له لوریه راغے | خو وینا ئې راته کړې زباني دي
چې نن شپه مومندو ووهلې توري | چې وهلې نهٔ افغان نهٔ توراني دي
لیندو غرِ په غشیو وکړو کشاد کانئ | په سرتور توري وهئ جمال خاني دي

د دې واقعې په تاریخ مرصع کښې لِه نقل کیدو یوه لویه تاریخي فائده دا هم ده چې مونږ په وثوق د ونیلو جوګه شو چې رحمان بابا تر دې واقعې چې په ۱۱۲۳ هـ کښې شوې وه او څهٔ موده یا څو ورځې ترې وروستو هم ژوندے وهٔ.

ص ۳۳۵

بهادر شاه په ۱۶ محرم ۱۱۲۴ هـ (څلیریشتمه فروري ۱۷۱۲ء) ناروغه شو او درې ورځې پس په ۱۹ محرم (۲۷ فروري) وفات شو

ص ۳۳۶

ن ب "چې اطاعت ئې قبول کړم"

۲. زما تر پامه افضل خان هغه واقعات چې د بهادر شاه په مرګ څرګند شول لکه چې باید واضح او په مناسب ډول نهٔ دي لیکلي. دپاره ئې وګورئ د ص۳۴۸ نوټ.

ص ۳۳۷

مط ن ب. ن ا "محمد عظیم زوے د فرخ سیر"

۲. دهلي.

ص ۳۳۹

او ا الف. اصل عبارت کښې "محمد زے" چې هم د اشنغر مهمند زے ترې مراد دے.

ص ۳۴۰

د مردان د ضلعې د مندنو کلي.

ص ۳۴۱

. مط ن ب و ن هـ. ن ا "سیني"

۲. لکه چې له مضمونه لیدهٔ شي څنې د ختټکو د زیرې علاقې او څنې د خوړې کلي دي. لکه

چې ماندوري اوغيره.

ص ۳۴۲

اګر کۀ ميان عيسیٰ (ميسا) نومے د ختټکو يو کلے د مردان د ضلعې مردان تحصيل په بائيزو تپه کښې هم شته. خو دلته ترې د ختټکو د پيښور د ضلعې د نوښار تحصيل کلے مراد دے چې شيدو (د لنډي په سمه غاړه) ته مخامخ د لنډي په کينه غاړه واقع دے چې په عوامي تلفظ کښې ورته ميسا وائي او په حقله ئې مشهور متل دے چې "د شيدو سنډګان د ميسا بوساړو ته شخوند وهي" ځکه چې خواران ئې د سيند له ښي غاړې کسي او ورته پسخيږي.

۲. اصل عبارت "محمد زي".

ص ۳۴۳

۱. ن ا و ن ب "ښوړے". ن ه "چنوړے".

۲. تحصيل او ضلع کوهاټ. له کوهاټه جنوب مشرق ته د کوهاټ او ګنبت تر مينځه واقع دے.

۳، ۴ الف. ن ب "غيرت کهتړ".

۴. ن ه "سيد عبدالله قطب الملک".

ص ۳۴۵

. دا عمل د کتاب او سنت اَو د صحابه کرام او سلف صالحين له آثارو خلاف او غير اسلامي دے.

ص ۳۴۶

۱. ن ب "چلکت". چلقت يا چلته زغرو ته وائي.

ص ۳۴۸

۱. دلته عبارت په ټولو نسخو کښې ناقص دے. مونږ پس د بهادر شاه له مرګه د محمد شاه تر تخت نشيني واقعات ليکو. وګورئ ص ۳۳۵ نوټ ۱ او ص ۳۳۶ نوټ ۲. چې بهادر شاه په ۱۹ محرم ۱۱۲۴ هجري (۲۷ فروري ۱۷۱۲ء) په لاهور کښې وفات شو نو د هغۀ د څلورو زامنو تر مينځه د تخت او تاج دپاره سره کشاله او جنګ جګړه شروع شوه. د دغو څلورو زامنو نامې ئې دا دي:

(۱) معزالدين چې بهادر شاه ورله د خپلې تخت نشيني نه پس د جهاندار شاه خطاب ورکړے وۀ او د ټهټهې او ملتان صوبه داري ئې ورسپارلې وه.

(۲) محمد عظيم چې عظيم الشان ئې خطاب وۀ او د بنګال او بهار په صوبه داری مامور وۀ.

(۳) رفیع القدر چې خطاب ئې رفیع الشان وۀ د کابل صوبه دار او لکه چې زمونږ مؤرخ افضل خان لیکي (ص ۳۳٦) د هغۀ سره ئې ډیر اخلاص وۀ بلکې یار ئې وۀ. او دواړو یو ځائے د چرغ او شاهین ډیر خله ښکارونه کړي وو.
(۴) خجسته اختر چې په جهان شاه مخاطب وۀ.

اګر کۀ د اورنګزیب یوۀ لوے او لوړ غر په شان د شخصیت په مقابله کښې د بهادر شاه حیثیت د یوې غونډی بلکې موږې هم نۀ وۀ. او د هغۀ د غلطو په وجه په سلطنت کښې ډیرې خرابی پیدا شوے وے. خو بیا هم یو تجربه کار سړے وۀ او کۀ نور نه نو دومره قابلیت خو ئې درلۀ چې د خپل پینځ کلیز حکومت په زمانه کښې ئې تر څۀ حده خو د مملکت اجزا سره پیوند کړي وساتل. خو د هغۀ له زامنو په چا کښې دومره قابلیت نۀ وۀ نو ځکه دپاره د بهادر شاه مرګ سره مونږ د سلطنت مغلیه په هغه دور کښې داخلیږو چې د سلطنت د اصلي او حقیقي تباهی او خوریدو وریدو آغاز ئې په ډیر تیز رفتار شروع شو.

مشر بادشاهزاده معز الدین په ابتدا کښې یو توررزن سپاهي وۀ خو لږه موده پس په ناسازو داسې سر شو چې ښیګړې ئې ورکې شوے او د بدیو یوه ټولنه ترې جوړه شوه. د شرابو په نشه او د لال کنور یا لال کماري نومې مجلسنې په عشق کښې داسې ډوب شو چې نور هر څۀ ترې پاتې شول. رفیع القدر یا رفیع الشان چې زمونږ د مؤرخ اخلاص مند اشنا او د ښکار ملګرے وۀ د سیاست بساط او د جنګ میدان سره بالکل نابلد او نا اشنا وۀ. او کۀ څۀ چل هنر ئې یا ګزار ئې زده کړے و. خو د ښکار. ټول وخت به ئې د خان په سنبالولو او جوړولو او رختونو جامو او جواهراتو په جمع کولو لګولو. وائي چې دویم بادشاهزاده محمد عظیم عظیم الشان به د دۀ په حقله وئیل چې:

آئینه وشانه گرفته به دست چون زن رعنا شده گیسو پرست

د بهادر شاه د شهزادګی په زمانه کښې رفیع القدر د هغۀ منظور نظر وۀ. بیا د رفیع القدر ځائے خجسته اختر جهان شاه واخست. خو د بهادر شاه د حکومت دوران کښې خصوصاً په اخري زمانه کښې ئې محمد عظیم عظیم الشان ته توجه او پرې ئې مهرباني ډیره زیاته شوله او د سلطنت تقریباً ټول کاروبار هم دغه بادشاهزاده چلولو. او له دې قبله د بهادر شاه د مرګ په وخت عظیم الشان په ټولو شاهزادګانو کښې زیات طاقتور وۀ خو په امراؤ کښې یو ډیر طاقتور او سازشي سیاست دان ذوالفقار خان محمد اسماعیل چې د اورنګزیب د ترور (ماسي) زوے وۀ د امیر الامرا شائسته خان زوم او دغسې د اورنګزیب د ماما د لور څښتن وۀ. .. د دریو نورو بادشاهزادګانو تر مینځه د عظیم الشان برخلاف اتحاد قائم کړو او

تـر میـنـځه شرطونه سره طے شول چې جهاندار شاه به بادشاه وي خطبه او سکه به د دهٔ په نامه وي. رفيـع الشـان بـه د کـابـل، کشـمير، ملتان ټهټې او بهکر حکمران وي. له نربدا تر راس کماري ټول دکن به د جهان شاه وي او د جنګ نه پس کومه اولجه چې به تر لاس راشي هغه به برابره ويشلے شي. او هم ذوالفقار خان به د دريو واړو وزير وي. دا داسې خندنے تجويز وهٔ چې دغـه مفسد او شرير سياست دان به پخپله ورپورې وشتې کړے او وئيل به ئې چې د دريو بادشاهانو ګډ حکومت خو دومره عجيبه نه خو د دريو واړو يو وزير کيدل عجيبه خبره ده.

عـظيـم الشـان په جنګ کولو کښې ډيره معطلتيا وکړه او مخالفو له ئې د تيارۍ ډيره موقع ورکړه. ګنه کهٔ جرأت او همت ئې ګمارلے وے او سمدستي ئې په دښمنانو حمله کړے وے نـو سـکـه کـامـيـاب شـوے وے. پـه هـر حـال پـه وړومبـي صفر ۱۱۲۴ هجري (۹ مارچ ۱۷۱۲ء) د بـادشـاه د مـرګ نـه لـس يـوولس ورځې پس درې واړه ملګري بادشاهزادګان د عـظيـم الشـان مـقابلې ته راووتل. تر اوو اتو ورځو خو هسې ټک ټوک او ټس ټوس کيدو خـو په ۹ صفر زور اور جنګ ولګيد. چې دويمې ورځې ته واوړيد يوه ګوله د عظيم الشان په هـاتي برابر شوه. او هاتي وارخطا د لاهور سيند راوي لورې ته داسې منډه کړه چې پسته چا نهٔ خو بيا هاتي او نهٔ ئې سور وليدو. د عظيم الشان مشر زوے ګرفتار او قتل کړے شو

د ذوالـفقار خان د شرارت له قبله کشران بادشاهزادګان مجبوره شول چې معز الدين جهـانـدار شـاه سـره منګولې ولګوې وړومبے د خجسته اختر جهان شاه او معز الدين جهاندار شاه تر مينځه په ۱۸ او ۱۹ صفر جنګ وشو او فيصله ئې د جهان شاه په حق کښې کيدونکې وه او جهـاندار شاه سره د خپلې معشوقې لال کنور له ميدانه په تيښته روان وهٔ چې ذوالفقار په جهـان شـاه يـوه داسـې حمله وکړه چې د جنګ نقشه ئې بدله کړه. جهان شاه قتل او فوځ ئې مات شو. په ۲۰ صفر ذوالفقار خان په رفيع القدر رفيع الشان هم چپاؤ وکړو او ختم ئې کړو.

دغـسـې ذوالـفـقـار خـان د بهـادر شاه ټولو نه بدعمله او نالائقه زوے د نامې بادشاه او خپـل خـان ئـې عـملاً حکمران کړو. جهاندار شاه هغه شرمندګي او په تخت او تاج پورې ئې هـغـه ټـوقـې او مسـخـرې وکـړے چې د بادشاه او د حکمران نامې او د بادشاهي او حکومت ادارې ئـې د خـنـدا کـړے. د بـادشاه د اخلاقو اثر په عمالو او عام رعايا کيدل لازمي خبره وه. ذوالـفـقـار خان چې د اورنګزيب د عهد يو قابل عسکري او سياسي شخصيت وهٔ پخپله هم په سپينه ډيره په عياشو سر شو. او د حکومت کار ئې سبهاچند نومے يو بد ګويه بد اخلاقه سړي تـه وسپـارلـو. نـهٔ صـرف ذوالـفـقـار خـان د بادشاه له بدعملي او عياشي اثر واخست بلکې د ميـخـوارۍ، بـدمـعاشي او عياشي او د سندرغاړو، د مجلسيانو او ډمانو د ګرم بازارۍ له عامه

رواجه گمان کيدو چې قاضي او مفتي به هم زر به شي چې ځان ته ساغر او صراحي کېږدي. د لال کنور وروڼه او لرې نژدې خپل خپلوان څوک چار هزاريان او څوک پنج هزاريان او د هاتيانو او نغارو څښتنان شول. او د هنرمنو، عالمانو او اشرافو قدر او عزت له ميانه ورک شو. او تپوقمارو خلقو ورپورې ځني د ربښتياؤ او ځنې د دروغو قيصې جوړې کړے. وائي چې کوم وخت بادشاه د لال کنور د ورور په نامه د اکبر آباد د صوبه دارۍ او ورته د پنجهزاري ذات سه هزار سوار منصب د عطا کيدو فرمان وکړو نو ذوالفقار خان عمداً د فرمان او اسنادو په تيارۍ کښې معطلتيا وکړه. لال کنور بادشاه ته شکايت وکړو بادشاه چې ترې تپوس وکړو نو ورته ئې کړۀ چې مونږه په رشوت اموخته شوي وو او بې له دې نه کار نۀ کړو. جهاندار شاه ترې مسکا کونکې پوښتنه وکړه چې له لال کنوره به څۀ رشوت اخلے. ورو ئې ووئيل چې زر طنبورې. جهاندار شاه وپوښتلو چې په زرو طنبورو به څۀ کړے. ورته ئې کړۀ چې هرکله زمونږه خلقو کارونه دغو خلقو ته سپارلے کيږي نو لازمه شوه چې مونږ د دېو خلقو کار کسب ته لاس کړو. جهاندار شاه وموسيدو او خبره ئې اخوا ديخوا کړه. يوه شپه جهاندار شاه او لال کنور يو ځائے په گاډې کښې بهر عيش ته وتي وو. او دومره شراب ئې وڅښل چې په گاډي کښې مست بې خوده راوستل شول. لال کنور خو د ځان سنبالولو وۀ په تپريدو ئې ځان خپلې بسترې ته ورسولو او جهاندار شاه هم هغسې په گاډي کښې پروت وۀ. نۀ ورته لال کنور او نۀ ورته گاډې بان پام وکړو. گاډي بان گاډے خپل ځائے ته ورسولو او هم هورې ئې ودرولو. نوکرانو چې جهاندار شاه لال کنور سره ونۀ ليدو نو لټون ئې شروع کړو او بادشاه سلامت هم هغسې مست بيخوده په گاډي کښې بياموندے شو. (د خافي خان منتخب اللباب حصه ۲ ص ۶۸۹، ۶۹۰)

پس له ديه خافي خان ليکي :

"ديگر افعالے که از سلاطين بلکه نسبت مردم عام بسيار قبيح است و به تحرير آن قلم را رنجه نمی توان داشت و در حق پادشاهان افترائے محض بايد دانست زبان زد مردم گرديد و از طرف داؤد خان که نائب ذوالفقار خان در صوبهٔ دکن بود ظلم چندان از و سر ميزد که اگر خواهد به تحرير آن پرداز د يا طناب کلام ميکشد و سبها چند ديوان و صاحب اختيار ذوالفقار خان گفته ميشد فحش و هرزه گوئی تکيه کلام او گرديده بود که از بوئے گنده دهان او عالمے در رنج و پيچ و تاب بود۔ و به تقاضائے دهر دون پرست روز بشب مير سانند۔" (ايضاً ص ۲۹۰، ۲۹۱) يعنې او داسې خبرې هم عام طور سره د ځنو کارونو په باب د خلقو په خلۀ وے چې بادشاهانو لره څۀ چې عام وګړي دپاره ډيرې مرداري دي. او د قلم ئې په ليکلو د گنده کولو په ځائے بايد چې د بادشاهانو په باب محض بهتان وگڼل شي او داؤد خان چې په دکن کښې د ذوالفقار خان نائب وۀ داسې ظلم ئې راخستے وۀ کۀ وليکل شي خبره وږديږي. او سبها چند

چې د ذوالفقار خان ديوان او مختار وۀ داسې هوار، پوچ، او کاواک به ئې وئيل چې د گنده خلې له بويه ئې خلق په عذاب او اور په اوبۀ وو. د کمينه ؤ د پالونکي دنيا له لاسه ئې بس ورخې شپې تيرولې.

دغه گنده رجحانات او پليد ميلانات په دوؤ دريو ورخو شپو يا مياشتو کلونو کښې نۀ وو پيدا شوي بلکې له مودو راهسې د مغلو په حکمرانه طبقه کښې موجود وو خو د اورنگزيب شخصيت او ځنو امراؤ او علماؤ کوششونو د سيلاب غورزنگ ته بند اچولې وۀ. ځنگه چې اورنگزيب ومړ ورخ ئې وکړو. د بهادر شاه په عهد کښې ئې زور ونيو او چې تر جهاندار شاه معامله ورسيده نو په چپو شو او بند مات وۀ.

د جهاندار شاه د بادشاهۍ هيله دوه درې مياشتې تيرې وې چې د محمد عظيم عظيم الشان کشر زوي (مشر زوې ئې محمد کريم لکه چې تاسو ولوستل د لاهور د جنگ نه پس گرفتار او قتل کړې شوې وۀ) فرخ سير د قسمت آزمايي تيارې او اقدام شروع کړ. او لکه چې تاسو په خپل کتاب تاريخ مرصع ص ۳۳۷ کښې ولوستل کامياب شو او جهاندار شاه او ذوالفقار خان ئې قتل کړۀ. افضل خان د فرخ سير په باب ليکي چې خبر ئې د عدالت او خبرداری شته. اگر کۀ د مغلو په تاريخ کښې د تخت او تاج د دعويدارانو وررونه، ترېوران او عزيزان وژل خو خير يوه روايتي خبره ده خو د فرخ سير د عدالت ابتدا چې ځنگه وشوه هغه داسې وه چې دهلي کښې ئې چې شاهانه جلوس تيريدو نو پکښې په يوۀ هاتي د جهاندار شاه سر د نيزې په څوکه کښې تومبلې خلقو ته ښئيلې کيدو او په حوضه کښې د جهاندار شاه لاش وۀ ورپسې د هاتي لکۍ پورې اړولې د ذوالفقار خان لاش راکښلې کيدو. دغه ننداره د خافي خان په الفاظو کښې په تصور کښې راولئ.

''و محمد فرخ سير که هفده هم محرم الحرام داخل شهر و قلعه گشت فرمود سر جهاندار شاه را در مکافات آنچه از و در حق برادران و امرا گذشته بالاے فيل بر سر نيزه نموده و لاش او را در حوضه فيل انداخته و لاش ذوالفقار خان را واژگون بر دم فيل بسته در نظر خلق جلوه داده عقب سواری به شهر در آورده لاشها را پيش دروازهٔ قلعه بينداز ند.''

اے برادر ما در دہر ار خورد خونت مرنج

چون ترا خون برادر ہم چو شير مادر است

(منتخب اللباب حص ۲ ص ۷۳۴)

ستم باندې ستم دا چې د ذوالفقار خان ځلور نيم شل کليز پلار اسد خان سره د کورنۍ د زنانه ؤ هم مجبور کړې شو چې په جلوس کښې دې شامل شي او دا ننداره دې وکړي. علاوه له ديو نور هم ډير امرا او د شاهي خاندان افراد قتل يا بندي شول. او د قتلولو،

بندولو، رندولو سلسله برابر جاري وه. فرخ سير په داسې شان سنګدلي ظلم او جور راواخست چې هر څوک په ځان شول. او کۀ څوک امير به دربار ته تلو نو له کوره به په اخښنه بخښنه وتلو. او کۀ به روغ راغے نو خيراتونه به ئې کړل. هر کله چې فرخ سير د سيدانو ورونو د سيد حسن علي خان چې سيد عبدالله خان هم ورته وائي او د سيد حسين علي خان په مرسته د شاهجهان او د اورنګزيب تخت او تاج بيامونډلے وۀ نو هغوي پرې بالکل مسلط وو او په حکومتي معاملو کښې د هغوي د مرضى نه خلاف نۀ څۀ کيدلے شول او نۀ کيدل. فرخ سير په ظاهره خو ډير ښکلے او توانا ځلمے وۀ خو د ميړنتوب جوهر ئې نۀ درلۀ کمزورے او ويريدونکے سړے وۀ. او د سيدانو ورونو د رائې د مخالفت او مقابلې جرأت او توان ئې نۀ درلۀ. خو اخر چې ډير تنګ شو او د خپل شخصيت او حکومت د اثبات کوشش ئې وکړو نو سيدانو ورونو ورومبے ړوند، بيا قيد او څو ورځې شپې پس ئې قتل کړو. د فرخ سير د حکومت زمانه له ۱۱۲۵ هجري (۱۷۱۳ء) نه تر ۱۱۳۱ هجري (۱۷۱۹ء) ده. د فرخ سير د عهد ډيره اهمه او مشهوره واقعه د بنده بهادر د سرکردګی لاندې د سيکانو د هنګامو خاتمه او د بنده بهادر شکست او قتل دے.

د جهاندار شاه قتل سره سيدانو ورونو له خانه بادشاه ګر يا بادشاه ساز جوړ کړو نو چې فرخ سير ئې هم ړوند او قيد کړو نو رفيع القدر يا رفيع الشان د ټولو نه کشر زوے رفيع الدرجات ئې چې هيله د شلو کالو او د نري رنځ په اخري درجه کښې وۀ بادشاه کړ خو د اګرې د قلعې سپاهيانو د بادشاهزاده اکبر (د اورنګزيب دريم زوے چې له هغۀ ياغي شوے او ايران ته تښتيدلے او د اورنګزيب په ژوند هم هورې وفات شوے وۀ) د زوي نيکو سير د بادشاهۍ اعلان وکړو. په هر حال رفيع الدرجات د خپل مشر ورور رفيع الدوله په حق کښې دستبردار شو او رفيع الدوله د شاهجهان ثاني په لقب په تخت کښينولے شو. رفيع الدرجات د دستبردارۍ نه تقريباً يوه هفته پس ومړ. سيد حسين علي خان د اګرې د متمردانو سرکوبۍ لره روان شو. او د دوۀ مياشتو د محاصرې نه پس ئې هغوي زير کړل. او نيکو سير ئې په بند کړ. خو رفيع الدوله شاهجهان ثاني د دغه کال يعنې ۱۱۳۱ هجري په اواخر کښې د اسهال په مرض ومړ. او د خجسته اختر جهان شاه دويم زوے روشن اختر د محمد شاه په لقب د هندوستان بادشاه جوړ کړے شو. (منتخب اللباب حصه ۲ ص ۶۸۵ تر ۸۳۸، د مولانا مودودي صاحب "دکن کي سياسي کشمکش" ص ۶۲ تر ۱۴۰ د الفنسټن هسټري آو انډيا ص ۶۸۱ تر ۶۹۱ دې کيمبرج شارټر هسټري آو انډيا ص ۳۵۳ تر ۳۵۷ دې آکسفرډ هسټري آو انډيا ص ۴۳۳، ۴۳۴ قاموس المشاهير جلد ۱ ص ۷۷، ۴۲۶)

محمد شاه د هندوستان په تاریخ کښې د خپلې عیاشۍ په وجه د رنګیلا په نامه مشهور دے. د دۀ د حکومت زمانه له ۱۱۳۱ هجري (۱۷۱۹ء) نه تر ۱۱۶۱ هجري (۱۷۴۸ء) وه. چې پکښې د ایران نادر شاه په هندوستان چپاؤ او دهلي کښې قتل عام کړے وۀ. خو هر کله چې دغه واقعات د اواخر ۱۱۵۱ هجري (اوائل ۱۷۳۹ء) دي او زمونږ تاریخ مرصع تر ۱۱۳۶ هجري واقعات بیانوي نو د نادر شاه په هندوستان د حملې او له هغۀ وړومبے په قندهار د حملې حال هم نۀ لري.

په هر حال د نظر د وړاندې ناقص عبارت نه پس چې تر ص ۳۹۸ (فصل) پورې کوم واقعات بیان شوي دي دا د محمد شاه په عهد کښې وو. "فصل" سره افضل خان بیا په وروستو لاړ شي. د خوشحال بابا د خنو اخلاقو او د هغۀ د وفات تاریخونه بیانوي. او وړپسې ۱۰۹۹ هجري نه سر دوباره واقعات راوئیسي او د امیر خان صوبه دار تر مرګه (چې په ۱۱۰۹ هجري واقع شوے وۀ) حالات بیانوي. او ورسره د خنو واقعاتو چې د کال ۱۰۹۹ هجري نه وړومبې شوي وو ذکر هم ضمناً راشي. لکه د ۱۰۹۲ هجري ص ۴۰۷، ۴۰۸ د ۱۰۹۵ هجري (ص ۴۱۴) ۱۰۹۷ هجري (ص ۴۱۸ او ۱۰۹۸ هجري (ص ۴۲۰) واقعات. چې دغه فصل د خوشحال بابا په وفات د اشرف خان هجري په وئیلې قصیده ختم شي نو نوے مضمون یعنې تذکرة الاولیاء او بیا وړپسې شجرې شروع شي.

ص ۳۴۹

بهنګي خیل د بولاقو ختکو ځانګه ده علاقه ئې د کوهاټ ضلعې د کوهاټ تحصیل د شکردرې علاقې سره لګیدلې ده. او اګر کۀ طبعي لحاظ سره د اباسین سمې غاړې ته د کیدو له قبله د صوبه سرحد برخه ده خو انتظامي لحاظ سره د پنجاب د میانوالي ضلعې عیسي خیل تحصیل کښې شامله کړلې شوې ده. دغه عیسيٰ خیل تحصیل د ۱۹۰۱ء د تقسیم نه وړومبے زمونږ په بنو ضلع کښې وۀ.

۲. د لاچي او تخت خواؤشا.

ص ۳۵۰

. زړه مینه د نوښار او سرائ اکوړه تر مینځه د ضلع پیښور په نوښار تحصیل کښې د ختکو کلے دے له نوښار چاوڼۍ شمال مشرق، له قصبې مشرق ته او له سرائ اکوړه شمال مغرب ته د لنډې سیند په کینه غاړه.

۲. وګورئ ص ۲۲۸ نوټ ۶ الف. سوریا خیل وترو ته نزدې مشرق رویه څۀ لږ جنوب ته واقع دي. (ضلع پیښور تحصیل نوښار) زړه مینه (۱) د دواړو تر مینځه نقطې نه قطب ته پرته

ده.

۳. مط ن ! . ن ب مندي.

صـ ۳۵۱

يعني هومره ئي مرتبه هم د خدائے تعالیٰ او هم د مخلوق په نزد زياته وي.

صـ ۳۵۳

۱ . يعني پير محمد فاضل.

۲، ۲ الف، ۲ ب. چـختـو د تـخـت نـه جنوب ته شيوكے تخت ته نزدې جنوب مشرق ته او د چـختـو نـه شـمال څخو مشرق ته واقع دے. خوړوبے د شيوكي نه جنوب څخو مشرق ته او د چختو نه په لږه فاصله شمال مشرق ته واقع دے. ټول كلي سره نزدې نزدې دي.

صـ ۳۵۴

۱ . مط ن ب. ن ا "اسباب بتبه بتبه ئي تاراج لوټ شۀ". ن ۵ "اسباب ئي هر څۀ سره تاراج شۀ".

۲. لیـکـن لکه چې مونږ وضاحت وکړو (ص۳۴۷ او ۳۴۸ نوټ ا) دغه ځائے په ټولو نسخو كښې ناقص دے او عبارت په مينځ كښې شكسته دے. مونږ په ياد شوي نوټ كښې واقعات د محمد شاه تر تخت نشيني وليكل.

د سيـدانـو ورونـو د زوال او تبـاهـي اسباب دا وو چې يو خو هسې هم د هغوي د زور زيـاتي نـه عـوام، خـواص او اميـران تـنـګ شـوي وو بيا هغوي د خپلو څنو هندوانو حاميانو د خـوشـحـالـولـو دپاره داسې كارونه هم وكړل چې د مسلمانانو مذهبي جذبات پرې مجروحه شول. او هغوي د خپل اهانت او بې عزتي مترادف وګڼل. مثلاً د فرخ سير د قتل نه پس د هغۀ راجپوتـه بيـګـمـه د هغې پلار اجيت سنګهـ د اجمير مارواړ راجه ته وسپارله او هغۀ بيا هندوه كـړه. د اګـرې پـه جـماعت كښې يوه هندوه ښځه مسلمانه شوې وه د هغې ئي ډيره بې عزتي وكـړه او پـه دغـه حـال ئي په ښار كښې وګرځوله او اعلان ئي وكړو چې كۀ چا ورسره نكاح وكـړه نو بې عزته به كړل شي. عام او خاص خلق خو هسې هم ورته خوړين وو پرې د پاسه دا چې د ميـر شـهـاب الـدين مخاطب په غازي الدين خان فيروز جنګ (چې د عالمګيري عهد د سـر پـه امراؤ كښې وۀ) زوي مير قمر الدين مخاطب په چين قليج خان نظام الملک يو تجربه كـار سپـاهـي او قـابـل سيـاسـتـدان او ورسره صلاحيت غوښتونكے سړے وۀ او د بهادر شاه د مـرګ نـه پـس چـې كوم فساد ښكاره شو په هغۀ كښې ئي د هر ورانې نه ځان وژغورلو او كۀ وس ئـي رسيـدو نو د ښو دپاره به ئي پكارولو. د بهادر شاه د مرګ نه پس د امراؤ په دريو ډلو (۱) توراني (۲) ايراني (۳) هندوستاني كښې رقابتونو سخت رنګ اختيار كړے وۀ. اسد خان

او ذوالفقار خان دوي ایرانیان وو. باره سیدان چې سید عبدالله خان (حسن علي خان) او حسین علي خان ئې غړي وو هندوستانیان وو. او چین قلیج خان له توراني امراؤ څخه وۀ. بادشاهي خاندان پخپله توراني وۀ. په توراني امراؤ کښې د اعتماد الدوله محمد امین خان چین بهادر سره د سیدانو ورونو ډیره خره وه او تل یو بل ته په څؤ وو. محمد امین خان چین بهادر د چین قلیج خان ډیر نزدې خپل وۀ. د سیدانو ورونو د چین قلیج خان سره مخالفت د دوي د چین بهادر یو تر بله مخالفت او دښمنی ته خطرناک رنګ ورکړو. سیدانو ورونو چې کوم فوځ د چین قلیج خان مقابلې لره دکن ته لیږلے وۀ چین قلیج خان ورله شکست ورکړو او سپه سالار دلاور علي خان ئې سره د څلورو پینځو زرو سپاهیانو قتل شو دغسې یو بل فوځ هم چې له اورنګ آباده د عالم علي خان د قیادت لاندې د چین قلیج خان مقابلې لره راغلے وۀ شکست وخوړ او عالم علي خان قتل شو حسن علي خان چې له دغو واقعاتو خبر شو نو اور په اوبۀ شو او وې غوښت چې وړومبے محمد امین خان چین بهادر قتل کړي چین بهادر هم احتیاطي تدابیر وکړل خو هوښیار خلق تر مینځه شول. سید عبدالله خان هم خپل ورور پوه کړو او معامله خرابی ته ونۀ رسیده. حسین علي خان بادشاه د ځان سره کړے سره د پنځوس زره فوځه د چین قلیج خان نظام الملک د مقابلې دپاره روان شو کۀ محمد امین خان هر څو غوښتل چې ورسره نۀ درومي او ورته ئې وئیل چې زما په لښکر کښې لویه ګڼه د مغلو (تورانیو) ده هغوي به هیڅکله نظام الملک سره په جنګ کولو خوښ نۀ وي خو په هر حال ئې خان سره کړو. په لاره کښې له اګرې اتیا میله لویدیز ته توډه بیهم نومے ځائے سره بادشاهي کیمپ لګیدلے وۀ. نو محمد امین خان چین بهادر پینځۀ تنه سید محمد امین سعادت خان حیدر قلي خان میر حیدر کاشغري، شاه عبدالغفور او میر جمله (دا د عهد عالمګیري امیر معظم خان محمد سعید خان خانان میر جمله د محمد امین خان صوبه دار کابل پلار نۀ دے) د حسین علي خان په قتل وګمارل. او په شپږمه ذوالحجه ۱۱۳۴ هجري (اکتوبر ۱۷۲۰ء) چې حسین علي خان د بادشاه سره د لیدو نه پس خپلې خیمې ته واپس روان وۀ نو په لاره کښې میر حیدر کاشغري ورله یوه عرضي ورکړه. چې حسین علي خان ئې څنګه په لوستلو شو نو کاشغري ورله پیش قبضه په لړمانۀ کښې ومنډله مړ ئې کړ. او سر ئې تري پریکړ. محمد امین خان چین بهادر بادشاه د ځان سره په هاتي سور کړ په یوۀ وړد بانس پورې ئې د حسین علي خان سر وتړلو او سپاهیانو ته ئې د حسین علي خان د مال اسباب د لوټ کولو اجازت ورکړو. او له بله لوري حیدر قلي خان د حسین علي خان په سپاهیانو ګوله باري شروع کړه. د حسین علي خان خوریي سید غیرت خان ډیر تهور وکړو او سره د

خلـويښتـو پـنـځـوسـو كسـانو هغه لور ته د جنګ دپاره روان شو كوم ځائے چې د بادشاه‌او مـحمد امين خان چين بهادر هاتي ولاړ وهٔ خو سره د خپلو ملګرو په ټوپكو وويشت شو. او د حسين عـلـي خـان د نورو ملګرو هم دغه انجام وشو. سيد عبدالله خان (حسن علي خان) چې واپـس دهلي ته راروان وهٔ په لاره كښې وهٔ چې د حسين علي خان له واقعې خبر شو خنو ګرم بازو سيدانو خو ورله سمدستي د جنګ رائ ورکړه خو دهٔ خپل بل ورور سيد نجم الدين علي خـان د دهـلـي صوبه دار ته وليكل چې زر تر زره د بادشاهي خاندان څوک بل غړے په تخت كښينـوه او پـخـپـله هم د لښکر جمع كولو دپاره دهلي ته روان شو د دهٔ له حكمه سره سم د بهـادر شـاه د دريـم زوي رفيـع الـقدر (رفيع الشان) مشر زوے د ابو الفتح ظهير الدين محمد ابـراهيـم شـاه پـه الـقـابو په تخت كښينولے شو. دوه ورځې پس سيد عبدالله خان هم دهلي ته ورسيـد. او د فـوځ د جـمـع كـولـو دپاره ئې بې دريغه روپۍ لګول شروع کړل. او د ۹۰ زرو خـواڼـو شا فوځ جمع كولو نه پس سره د شپاړسو لويو وړو توپو ابراهيم شاه د خانه سره كړے د محمد شاه مقابلې لره روان شهٔ. د دهلي نه مشرق او د اګرې نه شمال څخو مشرق ته په ۱۳، ۱۴ مـحـرم ۱۱۳۳ هـجـري (۱۴، ۱۵ نـومبر ۱۷۲۰ء) د دواړو فوځونو مقابله وشوه. د سيد عبـدالله خـان فـوځ چې اكثر پكښې رنګروټان وو د حيدر قلي خان توپخانې تس نس کړو. او سپـاهـيـانـو مـخ پـه تيښت كـړو. سيد عبدالله خان پخپله په ډيره مړانه جنګ وکړو او پس له ژوبـل كيـدو سـره د ابـراهـيـم شاه دستګير كړے شو او محمد شاه په حيثيت د يو فاتح په ۲۲ مـحـرم دهـلي كښې داخل شو. سيد عبدالله خان پاتې عمر په بندي خانه كښې تير کړو. او په محرم ۱۱۳۵ هجري (اكتوبر ۱۷۲۲ء) كښې پرې زهر وخوړلے شو او ومړ.

۳. ن ا او ن ب دواړه "ورځ په تنزل".

ص ۳۵۵

۱. مط ن ب. ن ا "خلل پذيريږي".

ص ۳۵۶

۱. يعني د مؤلف نيكانه، ماماخيل.

۲. مط ن ب يعني كمزوري، بزدلي. ن ا "څنه".

ص ۳۵۸

. ن ا "شائب خيل". ن ب "شاپيخيلو".

ص ۳۶۰

. ن ب "شوي كي". ن ا "شونكي". وګورئ ص ۳ نوټ ۲، ۲ الف، ۲ ب.

۲. د ډنډنګ جنوب مغرب او د زيارت کاکا صاحب مشرق ته د پېښور ضلعې نوښار تحصيل کښې.

۳. د جينا کوړ نه په لږه فاصله جنوب څۀ لږ مغرب ته.

۴. ن ا هم دلته "شويکي".

۵. قطب لوري ګنډيالي ته نزدې دے.

ص ۳۶۲

. مط ن ب. ن ا "او انفاق". بې وفايي سره نفاق لګي. د انفاق معنيٰ خرڅ کول دي.

۲. ن ب "... هډ وي او ناکام د ناراستي وي".

ص ۳۶۳

. مط ن ب . يعنې "ملا". لکه ن ا کښې. د ن ب پيروي د خټکو تلفظ سره سمه وشوه.

ص ۳۶۴

ګوندې د ياد شوي خط و کتابت سره د ګرځيدلو په فائده، غرض او غايت؟

۲. ن ب "دوي نور ملګيري کړۀ شي".

ص ۳۶۶

. ن ب "قبله واندهي پور". ن ه "قبله".

۲. ن ا "... د اوړو راګوي". ن ب "..... دواړه راکوي. جنوبي خټک اوړو ته دوړه وائي. نو غالباً چې د افضل خان تر وخته شمال مشرقي خټکو به هم دغه لفظ د اوړو دپاره استعمالولو.

ص ۳۶۷

. يولبارس خان يا بولبارس خان؟

۲. آغر خان پير محمد د اورنګزيب جرنيل وۀ چې د ايمل، خوشحال، دريا خان تحريک په دوران کښې ئې په مغلو جرنيلانو کښې ډير نوم پيدا کړے وۀ.

۳. سواليه نخښه زما ده.

ص ۳۶۸

. د خويشکو کلي (کوز خاتيز ته او بر لويديز ته سره بالکل نزدې) له نوښار چاونۍ او قصبې قطب خاتيز ته د لنډي سيند په کينه غاړه پراتۀ دي. انتظامي لحاظ سره د نوښار تحصيل کښې دي. خو طبعي لحاظ سره بايد چې د اشنغر او چارسدې تحصيل برخه وګڼلے شي. خويشکي د مهمندزو نزدې عزيزان دي. خټ کلے (زوړ نوښار اګر کۀ طبعي لحاظ سره خو د نوښار تحصيل حصه ده خو نوے يا لوے نوښار د سيند کينې غاړې ته دے او دواړه د اشنغر باندې

دي. چارسده له خويشكو شمال مغرب ته د دولسو ميلو په فاصله واقع ده.

۲. ن ه "دا حرامي روپۍ دے څۀ رنګ غواړي".

۳. ن ه "تور ته مې ووې دولس روپۍ ورکړه".

ص ۳٦۹

۱. سرفراز ګل د شيخ ضياء الدين صاحب (د حضرت كاكاصاحب د مشر فرزند) د زوي بازګل صاحب زوے وۀ. (د سيد سياح الدين صاحب كاكاخيل "تذكره شيخ رحمكار" ص ۱۷۸، ۱۷۹ شجري).

ص ۳۷۰

۱. برهان ګل د شيخ ضياء الدين صاحب زوے وۀ. (تذكره شيخ رحمكار شجره ص ۱۷۸) محمد غياث نه ګوندي غياث الدين مراد وي چې د شيخ ضياء الدين صاحب د زوي قياس الدين صاحب زوے وۀ. (تذكره شيخ رحمكار ص ۱۷۸، ۱۸۰ شجري) د قياس الدين صاحب په زمانو كښې د يوۀ نامه غوث بابا هم ورکړې شوې ده خو غالباً هغه ترې مراد نۀ دے. وګورئ د خپل كتاب ص ۳۷۹ محمد غياث د قياس الدين يعنې د قياس الدين زوے محمد غياث ئې.

ص ۳۷۱

ګوندي دلدار ګل او دلدار الدين يو كس وي چې په تذكره شيخ رحمكار ص ۱۷۸ شجره كښې د شيخ ضياء الدين صاحب له فرزندانو بښيلے شوے دے.

ص ۳۷۲

ن ب "هب تب".

۲. مط ن ب. ن ا "لا" الخ. د خټكو د تلفظ سره سم د ن ب سره اتفاق وشو

ص ۳۷۹

۱. كۀ محمد غياث او ګل قطب بيل بيل كسان وي نو نۀ شم وئيلے چې له ګل قطب څوک مراد دے. د محمد غياث دپاره وګورئ ص ۳۷۰ نوټ ۱ او راتلونكے نوټ.

۲. محمد غياث بن قياس الدين بن شيخ ضياء الدين بن حضرت شيخ رحمكار عرف كاكاصاحب رحمة الله عليه.

ص ۳۸۰

۱، ۱ الف. "بهنير" او "بونيهر". ن ب "بهير" او "بهيز". خو په ص ۱۱۰۷ (د ن ا ص ۳۸۲) "بنير". بنير د سوات ختيز ته د يوسفزيو مشهوره علاقه چې پكښې د حضرت سيد علي

ترمذي عرف پير بابا رحمة الله عليه مزار دے.
۲. ن ب "خس د سړي".
۳. دهوبيان د مردان ضلعې په صوابی تحصيل کښې د منډنو د رڅړو تپې مشهور کلے دے.
۴. د مردان د ضلعې په صوابی تحصيل کښې د منډنو، اتمان، بولاق تپه کښې مشهور او ډير زوړ کلے
۵. مط ن ب. ن ا "نيک مرد".

ص ۳۸۱

ن ب "دوئ ته ئې خط".
۲. سپکاوے. ن ا "حقيقت". ن ب "حصنت".
۳. دا قبيلوي نوم دلته او اگاهو هم څو ځايه محمدزي راغلے دے محمد زي د ابداليو د بارکزيو ځانگه ده. مهمندزے، مهمن زے يا مامن زے ځمند دے. چې د پيښور په اشنغر کښې ميشته دے. نوښار خټ کلے او نوے نوښار لکه چې وړومبے وضاحت شوے دے د پښتو له وخته د اشنغر بانډې دي. دراني (ابدالي) هم په نوي نوښار کښې شته خو غالباً دوئ د بحث د لاندې زمانه کښې نهٔ وو. بلکې د درانيو د اقتدار د اغازه سره يا ترې پس اباد شوي دي.

ص ۳۸۲

وگورئ ص ۱۸۰ نوټ ا، ا الف.

ص ۳۸۳

. ن ب "منجير".
۲. مط ن ب. ن ا "يو نمونه ئې راته کاوه".
۳. ن ا "تولے تولے له خلق". ن ب "تهوله تهوله له خلق".
۴. ن ب "چې يوه دوه بيړی سوارهٔ ورپورې شول."

ص ۳۸۴

. د نوښار چاونی سره جخت سهيل ته مشهور کلے دے.

ص ۳۸۶

. غالباً چې "سره ډيری" ترې مراد ده. سره ډيری د مردان ضلعې په صوابی تحصيل کښې واقع ده.
۲. ن ب "زر صل شپږ".

ص ۳۸۸

. ن ب "شپېږ ويښت".

ص ۳۹۷

. دلته د عبارت ترتيب سم نهٔ دے. بايد چې "په وقوع راغله" نه پس تر "زما رفت زين جهان پـردم" پورې په ص ۴۲۲ د خوشحال بابا په وفات وئيلے شوے د اشرف خان هجري د مرثيې نه پس ولوستلے شي.

ص ۳۹۸

لـکـه چـې د اشـرف خـان هجري او گوهر خان دوارو د وئيلي شوؤ تاريخونو نه ظاهره ده خـوشـحـال بـابـا د جمعې په ورځ په ۲۸ ربيع الثاني وفات شوے وۀ، د اشرف خان هجري په قـطعه کښې د "موطن خير، مجد و احسان بود" او هم د گوهر خان په مثنوی کښې "زما رفت زيـن جهـان پـدرم" اعـداد ۱۱۰۰ دي. د گوهر خان له مثنوی دا هم معلومېږي چې د شـمسي مياشتـې (ماه مهر) حوت وروميے تاريخ وۀ. مهر خان له هم د يوې مياشتې نوم دے. خو د هغې پـه وخـت تـحويل د حوت نه بلکې د ميزان وي او دلته د حوت تحويل ياد شوے دے. نو د ماه مهـر نـه د مهر (شـمس. نمر) مياشت شـمسي مياشت مراد ده. د حوت تحويل يا د اسفندار مذ ميـاشـت لـه ۱۹ فـروری تر ۲۰ مارچ او د ميزان تحويل يا د مهر مياشت له ۲۳ ستمبر تر ۲۲ اکتـوبـر وي. پـه وروميـې مـحرم ۱۱۰۰ هجري ۲۶ اکتوبر ۱۶۸۸ ء وۀ. ۲۸ ربيع الثاني (۱ حوت) به ۱۹ فروري ۱۶۸۹ ء سره سم وي.

۲. ن ه "۱۰۹۸".

۳. آزاد خـان، سکندر خان او عبدالرحمٰن خان د خوشحال بابا د زامنو نامې دي. وګورئ ص ۲۲۰، ۲۲۱.

ص ۳۹۹

۱. ميـر مـلـک حسين مخاطب په خان جهان کوکلتاش د سيد مظفر حسين مخاطب په فدائي خان بيا په اعظم خان ورور.

ص ۴۰۰

۱. ن ه "خورد سال زوے".

ص ۴۰۳

۱. د جلال آباد جنوب مغرب ته د گندمک نه په لږه فاصله مشرق ته.

ص ۴۰۴

. ن ا "څوطي څخه د فليليانو". ن ب چوهي فيلبانو". ن ج "حوهطي سره د فليليانو":

ص ۴۰۶

. ن ه "بـل دا چې نواب امير خان اول پښاور ته راغے او بهادر شاه تر سينده پورې (شۀ) امير خان وغوښت چې په د بنګښ کابل (ته لاړ شي).

ص ۴۰۸

. د چراټ سهيل ته لاشورې ته نزدې خاتيز رويه.

ص ۴۱۱

ن ا "کـرامـے" (يـا کرامي". ن ب و ن ه "بکرامي". او "بکرامے". بکرامے کابل ته نزدې سهيل خاتيز رويه واقع دے.

ص ۴۱۲

ن ب "ځيني"

۲. ن ا "بـادخيـلـو". بهـادر خيل د کوهاټ د ختکو مشهور کلے دے. چې خرم محمد زئ نه جنوب مغرب ته واقع دے.

ص ۴۱۳

ن ب "د بلهو د رشوت".

۲. د نوښار چاونی ته تقريباً پينځۀ شپږ ميله.

۳. مـط ن ب . يعنـي د مشـر خان دا اقدام زما يا زما د عالمو د بدی يا دښمنی په غرض نۀ وۀ بـلـکې زمـا بې ادائي چې بې د دۀ له حکمه مې داسې اقدام وکړو ورته بده ښکاره شوه. د ن ه عبـارت زيـات واضـح دے. "دا بـې ادائـي دې ما چې بې د دۀ له اذنه لاړ شوم بده ورته ښکاره شـوه. نـۀ په بدي دې ما د اولس". الخ. ن ه "نه په دې دِ ما د اولس". الخ. ظاهره ده چې د ن ا کاتب د "نه په بدې" په ځائے "نه به دے" لوستلے او ليکلے دے.

۴. ن ا "ميشکو".

۵. ن ا و ن ب "ګليشا خيل". (ګوندې ګلي شاه خيل). ن ه "ګلشاه خيل".

ص ۴۱۴

ن ه "خو مړ وۀ".

۲. يا "زويه نمسي".

۲. مط ن ب . ن ا "..... تر بوقې فعلے وو." ن ه له "په افريدي" تر کار نۀ کيدۀ" الفاظ نۀ لري.

ممکنه ده "تر برقه" د تربګنی بل شکل وي. درویزه کوکي خیل او دریا خان آدم خیل خو په هر حال دواړه افریدي وو.

ص ۴۱۵

. ن ه "تماشه بین شول د جنده کور". الخ

۲. مط ن ب و ن ه. ن ا "خان".

۳. د ملک دین خیلو افریدیو چوره د زخه خیلو د بازار مشرق لوري د خیبر جنوب ته واقع ده.

۴. مط ن ه. ن ا و ن ب "مړ شهٔ". د دریا خان د زوي فتح خان د مرګ ذکر وړومبے لیر شوے دے نو دې دپاره د ن ه عبارت غوره کړے شو.

۵. د ملک حمزه خان د یوهٔ زوي نامه خو په تیرو پاڼو کښې جمال خان راغلې ده نهٔ شو وئیلے چې دا ئې بل زوے دے کهٔ هم د هغهٔ نامه دلته جلال خان لیکلے شوې ده.

ص ۴۱۶

. ن ا "بلې". ن ب "هله".

۲. غوررزندي کلے د لاچی نه تقریباً نههٔ میله لویدیز او درملکو د کلي نه (چې له لاچی تقریباً پینځهٔ شپږ میله شمال مغرب ته دے) جنوب مغرب ته واقع دے. درې واړه ځایونه د کوهاټ ضلعې په کوهاټ تحصیل کښې د خټینو خټکو په علاقه کښې دي.

ص ۴۱۷

ا. مط ن ه. ن ا "کند" ن ب "کهد".

۲. "پشباب کښې" = ۱۰۹۸ "په شباب کښې" الفاظو کښې به "په شباب" د "ه" په حذف یو ځائے لوستل ضروري وي ګنه تاریخ به ۱۱۰۳ شي اعنې د خوشحال بابا د وفات د کال ۱۱۰۰ نه درې کاله وروستو. بیا په اخري لفظ "کښې" کښې به "ش" لوستل ضروري وي ګنه تاریخ به ۹۹۸ شي اعنې د خوشحال بابا د زیږون د کال ۱۰۲۲ هجري نه ۲۴ کاله اګاهو

ص ۴۱۸

ا ن ه "الله داد خویشکي لنګر کوټ ته لاړ".

۲. ن ه "بهرام چې بیارته سرائ ته راغے

۳. د پیښور ضلعې په نوښار تحصیل کښې د خوړې په علاقه کښې د نظامپور شمال مغرب او د میر کلان نه جنوب مشرق ته د دواړو په مینځ کښې.

۴. ن ب "ډير رد بد عابد خان ته ووئيل".
۵. ن ه "نور خان له خانه وشاړه". نور يعني بيا پس له دې.

صـ ۴۱۹

ن ه "نور بهرام خېل زوے مکرم" الخ.
۲ ن ب "ردبدل".

صـ ۴۲۰

۱. وګورئ ص ۳۶۰ نوټ ۲.
۲. ن ب "غريب".
۳. ن ب "له بهرامه له خان سره بدراه کړي يوسفزيو ته بيولي وو".
۴. ن ب "دا دواړه شرمنده دوئ هم سره راوستل".
۵. ن ب "خطه". ن ه "او ديوان اشرف خان هجري "حظه".
۶ حضرت آدم عليه السلام.

صـ ۴۲۱

ن ا "د صفي اولاد رمه دے له يوه شه". ن ب د ديوان هجري "د صفي اولاد رمه د دې ليوهٔ شهٔ". ن ه "د صفي اولاد رمه دے مرګ ليوهٔ شهٔ".
۲. ن ب و ن ه "قصه". ن ا "د ديوان هجري "قضيه".
۳. مط ن ه او ديوان هجري. ن ا "پاکه ړيره دې په ګور نن د بابا ده".
۴. ن ه "په ښهٔ مخ به ئې نور ستر ګې جلا نهٔ کړے".
۵. خوړه او زيړه د ختکنامې دوه برخې دي. دويمې زيړه نه به مراد په رنګ زيړه وي.
۶. چراټ سره د تورو سر نوح غر د پيښور ضلعې په نوښار تحصيل کښې.
۷. لواغر د کوهاټ د کرک تحصيل خوترې علاقې څخه.

صـ ۴۲۲

. دغه عنوان ما قائم کړے دے. اصل پښتو عبارت داسې شروع کيږي. "فصل دے په بيان د غورغوشتي د اولاد رحمة الله عليه اجمعين او فهرست الخ". د فهرست نه وړومبے الفاظ ما ووهل ځکه چې يو خو د تذکرې مضمون د سړبنيو اولياؤ نه شروع کيږي بيا د بيټنيو اولياؤ او وربسې د غورغوشتيو اولياؤ ذکر دے. فارسي نسخو کښې هم دغه ترتيب دے. او پښتو ترجمه کښې ئې هم پيروي شوې ده. د غورغوشتيو اولياؤ د حال نه پس په فارسي نسخو کښې د پيـنځو پښتنو بيبيانو چې خدائے ورته د ولايت درجه بخښلې وه حالات راغلي دي.

ښنتو نسخو کښې ئې ذکر نشته. د دیو په ځائې د تاریخ مرصع مؤلف د نهو سرو ښنتو اولیاؤ له شیخ آدم بنوري تر راول ختک پورې حالات لیکلي دي. چې خواجه نعمت الله ئې په خپل تاریخ کښې ذکر نۀ دے کړے. د حالاتو له لوستو به وروميے ښاغلي لوستونکي دغه څو لاندينی خبرې هم د نظر لاندې وساتي:

(۱) د سړبنيو اولياؤ په ابتدائي فهرست کښې د شپږ ويشتو کسانو نامې په ن ا کښې درج دي. خو په متن کښې صرف د شپاړسو کسانو حالات بيان شوي دي. په دې شپاړسو کسانو کښې څلورم او اووم په ترتيب شيخ علي او شيخ وتو شورياني دي. دغه نامې په ابتدائي فهرست کښې نشته. نو چې دغه دوه نامې ورسره يو ځائے شي نو ټول اتۀ ويشت کسان شي. نو زمونږ کتاب کښې هم د اتويشتو کسانو ذکر راغلے.

(۲) په ن ا کښې د شپاړسو سړبنيو اولياؤ د احوال نه پس د شپاړسو بيټنيو اولياؤ نامې دي خو احوال ئې نشته. دغسې د غورغوشتيو څوارلسو اولياؤ نامې هم بې د حالاتو له تفصيله يادوي. ن ا د شپاړسو بيټنيو اولياؤ د نامو نه پس صرف دا عبارت لري. "دغه واړه مشائخان بزرگان د خپل خپل وخت تير شوي دي ډير ډير کرامات څنې ظاهر شوي دي. کۀ د واړو کرامات وکښل شي کتاب نهايت طول څکوي څکه ونۀ کښل شول." د غورغوشتيو څوارلسو اولياؤ د نامو يادولو نه پس په دغو الفاظو معذرت کيږي "هم دا رنګ د همګي مشائخانو ذکرونه په خپل خپل خوارق نقل دي او دا رنګ بې شمار دي چې کښل د واړو مشکل دي. کتاب وړديږي. او لوستونکي او کښونکي لره دقت زياتيږي بنا برين مختصر ووئيل شول." (ص ۴۳۳)

(۳). مونږه دغه ناقصه حصه د ن ب په بنا مکمل کړه.

(۴). د غورغوشتيو اولياؤ د حالاتو نه پس چې د کومو اولياؤ نومونه او حالات افضل خان پخپله ليکلي دي نو هر کله چې هغو سره متعلقه حصه هم په ن ب کښې بهتره او زياته مفصله ده نو مونږ هم له دغې نسخې رانقل کړه.

(۵). په ن ب کښې د غورغوشتيو اولياؤ نومونه په ابتدائي فهرست کښې اوولس دي خو په متن کښې د اتلس کسانو حالات دي. په ابتدائي فهرست کښې د ملا علي بيټني نامه پاتې شوې ده. مونږ په فهرست کښې هم وليکله.

(۶). دغسې لکه چې تاسو ولوستل په ن ا او ن ب دواړو کښې د غورغوشتيو څوارلسو کسانو نامې دي خو د ن ب متن کښې د اتلسو کسانو نامې دي د کومو صاحبانو نامې چې له ابتدائي فهرسته پاتې دي مونږ پکښې شاملې کړے. نو اوس به زمونږ د دغه چاپې نسخې او فارسي نسخو فرق د لاندينی مقابلې نه ښکاره شي.

تاریخ خان جهاني (ن ح)
سربني اولیاء

. خواجه قطب الدين بختيار (اوشي) كاكي (متن خواجه قطب الدين بختيار كاكي)

۲. شيخ اسمعيل سربني (كه پسر شيخ بيت بود داخل سربني شد)

۳. (شيخ خواجه بختيار

۴. شيخ علي دنكر بختيار

متن وائي: "...لاغر و ضعيف و نزار و استخوان پهلوئے ایشان مثل نرد بان بر آمده بود". يعني ډير تېپ او كمزورے او ناتوانه وۀ او د ارخونو هډوكي ئ لكه د اندرپايي ليدل شول. (جلد۲ ص ۷۴۰) پښتو نسخې "ډير كم گوشت او لاغر او زار و نزار وۀ او پښتې ئ د ارخونو له ډير فقر او فاقې وتلې وې." ص ۴۳۰ نو "دنكر" د پښتو "ډنگر" دے چې د پښتونخوا په جنوبي علاقو كښې عام طور سره د لاغر او تېپ په معنیٰ مستعمل دے.

۵. شيخ (پائي) سيداني.

۶ مير شيراني (متن مير شيراني)

۷. شيخ (پير) وتو شورياني خويشكي.

۸.☆ شيخ بستان بريخ

۹ (متهه) كاسي. حاشيه د يوې بلې نسخې په حواله مهته كانسي.

شيخ ابو سعيد شورياني خويشكي.

شاه محمود جلواني مجذوب

زمونږ چاپه نسخه
سربني اولياء

قطب الدين اوشي (متن قطب الدين بختيار كاكي).

۲. شيخ اسماعيل سربني.

۳. خواجه بختيار پائي (متن شيخ بختيار)

۴. شيخ علي.

۵. شيخ سيداني (متن شيخ پائي سيداني)

۶ شيخ مير شيراني

۷. شيخ وتو شورياني (متن شيخ وتو شورياني چې خويشكے وۀ)

۸. ابوسعيد شورياني (په متن كښې ئ حال په لسم نمبر دے)

۹. شيخ بستان (متن كښې ئې حال په اتم نمبر دے)

۱۰ شيخ متهه كانسي (متن كښې ئې حال په نهم نمبر دے)

۱۱. شاه محمود جلواني مجذوب

۱۲ شاه عبدالرحمٰن بختيار

۱۳. شاه ابابكر بختيار

۱۴ شاه گدا ولد شاه ابابكر (متن... زوے د بختيار ابابكر)

۱۵ شيخ حامد ولد شاه گدا بختيار.

۱۶ شيخ شهاب بختيار

۱۷. شيخ ثابت بريخ

۱۸ شيخ الياس بريخ

۱۹. شيخ مانكي شهباز بريخ

۲۰. شيخ متي خليل.

١٢. شاه عبدالرحمٰن (بختیار)
١٣. شاه ابابکر بختیار
١٤. شاه گدا ولد شاه [(ابابکر)] بختیار
١٥. شیخ حامد ولد شیخ گدا بختیار
١٦. [شیخ شهاب بختیار]
١٧. شیخ ثابت بریځ
١٨ شیخ الیاس بریځ
١٩. شاه مانکي شهباز (بریځ)
٢٠. شیخ متي خلیل
٢١. شیخ عارف ترین اودل
٢٢. شیخ حسن [(کاسي)]
٢٣. شیخ کړوچوپان سړبني
٢٤. شیخ بهدین بختیار
٢٥. شاه بختیار
١٦ شیخ ملک یا پران [(خرسین)]
٢٧. میان قاسم خلیل (حاشیه میان شیخ قاسم متي زی. یعنې موتې زی.
٢٨. حاجي ککن خویشکي.

په متن کښې ئ حالات نشته او دا حاشیه پرې لیکلې شوې ده. "نام این شیخ در اسامي مشائخ درج است. اما از متن افتاده حاجي ککن وتوزئ از اولاد عارف است. مرید شیخ عیسیٰ مشواني بود. خیلی عابد و پرهیزگار بود و همیشه بر روئې خود برقع داشتی. هفت بار حج کرده اکثر خوارق از ایشان ظاهر شده".

بیټني اولیاء

شیخ بټه (متن بیټ بټني)

٢١. شیخ عارف بن اودل (متن شیخ عارف اودل) ابدالي یا اودلي د ترین ځانګه بلل کیدې شي خو ترین د اودلي ځانګه نشي بلل کیدې دې دپاره چې په شجره کښې نور، سپین اودل د ترین زامن یاد شوي دي نو ښکاري چې دغه اودل د قبیلې نوم (چې د ترین زوي د اودل نامې پسې تللې دې) نه وي بلکې د بل سړي نوم وي نو لکه چې پښتو فهرست وائي د عارف ترین د باباجي نامه اودل وه. والله اعلم بالصواب.
٢٢. شیخ حسن
٢٣. شیخ کروچوپان (پښتو قلمي نسخه کښې په ابتدائي فهرست کښې شیخ کردجویان سړبني متن کښې شیخ کروچوپان سړبني)
٢٤. شیخ بهدین بختیار
٢٥. شاه بختیار
٢٦. شیخ ملک یار پران خرسین (په پښتو قلمي نسخو کښې په ابتدائي فهرست کښې شیخ ملک پیران خرسین او متن کښې ملک یا پیران خرسین موندې پس له مقابلې تصحیح وکړه)
٢٧. شیخ قاسم خلیل
٢٨. شیخ حسن بختیار. زمونږ متن هم د شیخ بختیار احوال ورکوي.

بیټني اولیاء

شیخ بیټ بیټني

۲. شیخ احمد لودي (د دویم کالم ۷)
۳. شیخ خلیل بتني
۴. شیخ احمد شون نوحاني (د دویم کالم ۱۰)
۵. شیخ النبي (زمونږ نسخو کښې نشته)
۶ ملا خضر بیتني
شیخ احمد سرواني (زمونږ نسخو کښې نشته)
۸. شیخ سلیمان دانا [سرواني]
۹. شیخ ملهي قتال [سرواني]
شیخ صدر جهان سرواني (د دویم کالم ۱۵)
۱۱ شیخ محمود حاجي سرواني (د دویم کالم ۱۷)
۱۲ شیخ یحییٰ شهید باهي (د دویم کالم ۱۴)
۱۳. شیخ خضر سرواني (د دویم کالم ۱۱)
۱۴ شیخ مجن نیازي (د دویم کالم ۱۶)
۱۵ شیخ ادریس مزباني (زمریاني) ولد شون بتني (دویم کالم ۵) نسخه کښې رباني دے مزباني صحیح دے. (وګورئ د دویم کالم ۵. بل قبیلوي نوم زمریالے یا زمریانے کیدے شي خو هغه سرېنے دے.
۱۶ شیخ علي سرمست [پشور] بتني (دویم کالم ۴)
۱۷ ملا [(ن)] علي بتني (د دویم کالم ۲)
۱۸ شیخ [علي] سرور لودي (د دویم کالم ۱۲)

۲. ملا علي بیتني (د وړومبي کالم ۱۷)
۳. شیخ خلیل بیتني
۴. شیخ علي سرمست بیتني (د وړومبي کالم ۱۶)
۵. شیخ ادریس مزباني. پښتو زباني وۀ خو مونږ مزباني کړو. مزباني د بیتنیو څانګه ده. (د وړومبي کالم ۱۵)
۶ ملا خضر بیتني
۷. شیخ احمد لودي (د وړومبي کالم ۲)
۸. شیخ سلیمان دانا سرواني.
۹ شیخ ملهي قتال سرواني
شیخ احمد لوحاني (د وړومبي کالم ۴)
. شیخ خضر سرواني (د وړومبي کالم ۱۳)
۱۲ شیخ علي سرور لودي (د وړومبي کالم نمبر ۱۸)
۱۳. شیخ بایزید سرواني (د وړومبي کالم نمبر ۱۹)
۱۴ شیخ یحییٰ شهید باهي (د وړومبي کالم نمبر ۱۲)
۱۵ شیخ صدر جهان سرواني (د وړومبي کالم نمبر ۱۰)
۱۶ شیخ مجن نیازي (د وړومبي کالم ۱۴)
۱۷ شیخ محمود. متن شیخ محمود حاجي (د وړومبي کالم نمبر ۱۱)
۱۸ .حاجي الحرمین حاجي عبدالله سرواني د وړومبي کالم نمبر ۲۰)

۱۹. شیخ بایزید سرواني (د دویم کالم ۱۳.)

۲۰. حاجي الحرمین عبدالله سرواني

غورغوشتي اولیاء

خواجه خضر [(کاکړ)]

۲. شیخ خدو ولد یونس (ناغر)

۳. شیخ حسن افغان داوي

۴. شیخ جمال کاکړ.

۵. (شیخ) حاجي ابوالاسحاق داوي

۶ خواجه کري تارن

۷. شیخ ارمیا تارن.

۸. شیخ بدک تارن

۹. شیخ علي تارن

شیخ احمد شون پني

۱۱. ملک آدم کاکړ سبراؤ

۱۲ شیخ محمد شون

۱۳ شیخ همزه سبر او پسر ملک [آدم] کاکړ.

۱۴. شیخ نیک نام داوي.

۱۵. نهٔ تن مردان کاکر که بزبان پشتو زن (غوري) مي گویند.

۱۶ شیخ جمال کاکړ (دغه نوم د ن ح په ۴ هم ور کړے دے او زمونږ په ۴ کښې شیخ کمال دے)

۱۷. شیخ المشائخ شیخ مونا ناغر

۱۸. شیخ عیسیٰ مسواني

۱۹. وګورئ د وړومبي کالم نمبر ۵

۲۰. وګورئ د وړومبي کالم ۷

غورغوشتي اولیاء

خواجه خضر کاکړ.

۲. شیخ خذو ناغر (متن شیخ خذو ولد یونس ناغر)

۳. شیخ حسن افغان

۴. شیخ کمال کاکړ

۵. شیخ ابوالاسحاق داوي

۶ خواجه کري تارن

۷. شیخ ارمیا تارن

۸. شیخ بدک تارن

۹. شیخ علي تارن

شیخ احمد پنړي (متن شیخ احمد شون)

۱۱. ملک آدم کاکړ

۱۲ شیخ محمد شون پنړي

۱۳. شیخ حمزه کاکړ (متن"... چې زوے د ملک آدم کاکړ وهٔ".)

۱۴. شیخ نیکنام داوي

۱۵. انه تنه مردان کاکړ زنغوري (ابتدائي فهرست کښې درې او متن کښې انهٔ تنه مونږه د فارسي نسخې د نظر د وړاندې ابتدائي فهرست هم د متن مطابق کړو)

۱۶. شیخ جمال کاکړ

۱۷. شیخ مونا ناغر

۱۸. شیخ عیسیٰ مشواني

د پښتنو بیبیانو حالات چې له خدایه ئ د ولایت درجه موندلې وه.

(دغه نامې په متن کښې سره د حالاتو درج دي. ابتدائي فهرست کښې نشته.

۱. عصمت پناه بي بي دویه بنت شیخ سلیمان دانا خواهر شیخ ملهي قتال جلد ۲ ص۸۲۶. (د شجرو له رویه بي بي دویه انا د مومند ولد دولت یار ولد غوري ولد کند ولد خرشبون ولد سړبن بنخه وه. جلد ۲ ص ۵۶۷، ۵۶۸)

۲. عفت دستگاه بي بي راستي از اسباط خواجه یحيیٰ کبیر در حباله عقد خواجه ویس سرواني بود".

۳. عفت مآب بي بي شیخزادي ایشان نیز از نسل خواجه یحيیٰ کبیر و در عقد میان ترمان ولد میان دودا سیداني بودند." حاشیه د دودا په خائ داؤد.

صالحه دوران و ساجده زمان بي بي صورت بنت ملک بستان کاکر جد میان هیبت خان که باعث تسوید این تاریخ بود".

۵. عفت آیات مجذوبه به مولا در زمان سلطنت عرش آشیاني اکبر بادشاه در یکے از مواضع کیتهل ظاهر شد."

د ابتدائي فهرستونو دپاره و گورئ جلد ۲ ص ۷۰۷ تر ۷۱۰ د سړبنیو اولیاؤ د حالاتو دپاره ص ۷۱۱ تر ۷۲۹ د بیټنیو اولیاؤ د حالاتو دپاره ص ۷۷۰ تر ۸۲۵. د بیبیانو د حالاتو دپاره ص ۸۲۵ تر ۸۳۱. د ن ح د مختلفو شکلونو لیندي یا بریکټونه د مختلفو قلمي نسخو علامتونه دي.

هغه اولیاء چې نامې او حالات ئ په فارسي نسخو کښې نهٔ دي راغلي او حالات ئې افضل خان په تاریخ مرصع کښې لیکلي او کتاب سره ئې ضم کړي دي

شیخ آدم بنوري مشوانړے

۲. شیخ نسک ختک کرلانړے

۳. پیر سباک

۴. شیخ بهادر دین پلار بزرگوار د شیخ رحمکارؒ

۵. شیخ رحمکارؒ ختک پښتون کرلانړے

۶ اخوند محمد څالاک ترین

۷. میان جمیل زوے د شهباز خان ختک

۸. الله داد چشتي

۹. راول فقیر ختک

دغسي فارسي نسخو کښي د يو اويا سړيو او ښځو (د شپږ شپيتو سړيو او پينځو ښځو او په تاريخ مرصع کښي د دريو اوياؤ سړيو اولياؤ ذکر راغلے دے.

۲. د ګران فاضل او محقق ښاغلي عبدالحئ حبيبي خيال دے چې دغه اوش د بغداد له توابعو نۀ دے بلکې ترې نه مراد د سندھ يا بهاولپور د علاقې اوچھ دے چې د حضرت بختيار کاکي رحمة الله عليه مشران د پښتونخوا نه هورې تللي او ميشته شوي وو. له دې قبله د حضرت نسبت هغه ځائے ته شوے دے. بادشاهزاده داراشکوه په خپل کتاب سفينة الاولياء کښې ليکي چې "د دوئ نوم بختيار بن احمد بن موسي دے او د ولادت ځائے ئې د فرغانه اوش دے چې د اندجان له مضافاتو يوه قصبه ده." (اردو ترجمه سفينة الاولياء ص ۱۳۰ له محمد علي لطفي او حاشيه ۴ ص ۲۱۷ ن ح جلد ۲) د ښاغلي حبيبي د خيال په مرسته کښې وئيلې شو چې کۀ دوي ځائي د بغداد د اطرافو وو او وسيدل په هندوستان کښې حق هم هورې ورسيدل نو بيا ورته د پښتون او بيا د سړبني وئيلو څۀ جواز نۀ پيدا کيږي. بختيار غالباً چې د حضرت قبيلوي نوم وۀ. بختيار د سړبنيو ځانګه ده. خو وګورئ ص ۴۶۴ و ۴۶۵ او نوټونه.

۳. ن ح جلد ۲ ص ۲۱۷ "ثمانين و خمس مايه (۵۸۰) او حاشيه ۵ هم ۵۸۰ خمس و ثمانين مايه يوه بله نسخه او اخبار الاولياء ايضاً. بله "۵۸۲ ثمانين و خمس مايه" خو په الفاظو کښې چې سن ور کړے شوے دے ترې هم ۵۸۰ جوړيږي. ډورن حصه ۲ ص ۲/ ۵۸۵.

سلطان الاوليائے هند حضرت خواجه معين الدين چشتي اجميري رحمة الله عليه فرزند ارجمند د حضرت غياث حسن رحمة الله عليه. دوي حسيني حسني سيد وو. په ۵۳۷هـ کښې د سجستان له توابعو په سنجر نومې قصبه کښې زيږيدلي وو عمر مبارک ئې د پينځلسو کالو وۀ چې باباجي صاحبؒ ئې حق ورسيدل. دوي د حضرت خواجه عثمان چشتيؒ مريد شول. د سلطان معزالدين سام (سلطان شهاب الدين غوريؒ فاتح هندوستان) په زمانه کښې د فتح نه ئې وروستو په اجمير (راجپوتانه) کښې استوګه وفرمائيله او يوه لويه ګڼه د خلقو د دوي په تبليغ او ارشاد په اسلام مشرفه شوله او ډيرو عالمو ترې د فيض اکتساب وکړو. د خالي په ورځ په شپږم رجب ۶۳۳هـ ئې وصال وشو. روضه مبارکه ئې په اجمير کښې ده چې نۀ صرف مسلمانان بلکه هندوان خصوصاً راجپوت ئې هم زيارت له ځي. حضرت خواجه موصوف رحمة الله عليه خو خپل ټول عمر د الله تبارک و تعالیٰ په بندګۍ او د هغۀ د ټولو نه لوئے او آخري رسول حضرت محمد مصطفیٰ احمد مجتبیٰ صلي الله عليه وسلم په غلامۍ او پيروۍ کښې او د دين مبين اسلام په تبليغ او اشاعت او د خلق الله د

اعـمـالـو او احوالو په اصلاح کښې تير کړو. خو افسوس دے چې په زائرينو کښې ډير داسې حرکات کوي چې نۀ صرف د بدعت بلکه د کفر او شرک هم مترادف دي. العياذ بالله.

۲. مط ن ح جلد۲ ص۱۵ ۷و۲ ۱ ۷. پښتو نسخې "شيخ شهـاب الـدين او خواجه عمر سهروردي". هـم د حضرت ابوحفص شيخ شهاب الدين سهروردیؒ نوم عمر دے. والد ماجد ئې محمد البکري سهروردیؒ دي. د حضرت صديق اکبر سيّدنا ابوبکر رضي الله تعالیٰ عنه له اولاده دي. د شيخ ابوحفص شهاب عمر سهروردیؒ ولادت په رجب ۵۳۹هـ (جنوري ۱۱۴۵ء) او وفات ئې په وروميې تاريخ د محرم ۶۳۲هـ (۲۶ ستمبر ۱۲۳۴ء) کښې وۀ. مزار شريف ئې په بغداد کښې دے. شافعي المذهب وو. تصانيف ئې ډير زيات دي. د خپل ترۀ شيخ ابو النجيبؒ مريد وو. شيخ بهاؤ الدين زکريا ملتانیؒ او شيخ نجيب الدين علي برغشؒ ئې له مريدانو څخه وو (ن ح ۲ ص۲ ۱ ۷ حاشيه ۱ د عيسوي تاريخونو معلق قوسين له ما دي)

۲(ا) و ۲(ب). مط ن ح جلد۲ ص۲ ۱ ۷. پښتو نسخې "احد الدين تبريزي".

(ا) شيخ اوحدالدين حامد کرماني د شيخ رکن الدين سنجاني مريد وو او سهرورديه سلسلې سره ئې تعلق وۀ. وفات ئې په ۶۳۵هـ (۳۸-۱۲۳۷) کښې وۀ. وګورئ ن ح ۲ ص۲ ۱ ۷ حاشيه۲ قوسين له ما دي.

(ب) شيخ جلال الدين تبريزیؒ د شيخ بدرالدين ابوسعيد تبريزیؒ او د شيخ شهاب الدين سهروردیؒ مريد وو او حضرت خواجه قطب الدينؒ او حضرت شيخ بهاء الدين زکريا ملتانیؒ سره ئې ګڼه دوستي وه. شيخ نجم الدين صغري چې د دهلي شيخ الاسلام وۀ شيخ جلال الدين تبريزیؒ سره ئې کينه شوه او د هغوي په باب ئې ناسازې خبرې آغازې کړې خو د حضرت شيخ بهاوالدين زکريا ملتانیؒ له برکته خلقو ته د هغو د مخالفانه خبرو نادرستي ښکاره او څرګنده شوه. په هر حال شيخ جلال الدين تبريزیؒ بنګال ته ولاړل او هم هورې حق ورسيدل. مزار شريف ئې بندرديو محل کښې دے. (ايضاً حاشيه۳).

۳. وګورئ نوټونه۲ او ۲(الف) و ۲(ب). د والد ماجد نامه ئې شيخ وجيه الدين قريشیؒ وه. د ملتان د ضلعې کوټ کروړ کښې په ۵۶۶هـ (۷۰-۱۱۷۱ء) کښې زيږيدلي وو د تعليم نه پس ئې د بغداد سفر وکړو. او د شيخ شهاب الدين سهروردي مريدي ئې اختيار کړه او له هغه پسه ملتان ته راغلل او حضرت فريد الدين شکر ګنجؒ (د پاکستان او هندوستان په ډيرو لويو اولياؤ کښې ئې شمار دے. مزار شريف ئې په اجودهن يا پاک پتن ضلع ساهيوال يا منټګمری کښې دے). سره به ئې اکثر ناستې پاستې کولو. د سلطان غياث الدين بلبنؒ په عهد

کبنې په ۷ صفر ۶۶۲هـ (۲۸ اکتوبر ۱۲۶۷ء) د سلو کالو په عمر حق ورسیدل. د پاکستان او هندوستان په ډیرو لویو اولیاؤ کبنې شمیرلي کیږي. وګورئ ن ح ص۷۱۷ حاشیه ۱. او قاموس المشاهیر جلد۲ ص۱۳۸ ن ح د حضرت شیخ د ولادت کال پانصدوشصت و شش هجري (۵۶۶هـ) بنيئ او قاموس المشاهیر ئي ۵۶۵هـ(۱۱۷۰ء) (بې له تاریخه) بیانوي. ۵۶۶هـ له پنځۀ ویشتم ستمبر ۱۱۶۹ء تر دیارلسم ستمبر ۱۱۷۰ء او ۶۶۲هـ له څوالسم ستمبر ۱۱۷۰ء تر دریم ستمبر ۱۱۷۱ء وۀ. ن ح د حضرت شیخ وفات د سلو کالو په عمر بې له تاریخه یا کال بنئیلو بیانوي. قاموس المشاهیر ئي د سلو کالو په عمر په ۷ نومبر ۱۲۶۶ء مطابق ۷ صفر ۶۶۵هـ بیانوي. وګورئ تصحیح الاغلاط جلد اول (جلد دویم سره لګیدلي) کۀ د حضرت شیخ وفات په ۷ صفر ۶۶۵هـ شوي وي نو هر کله چې ۶۶۵هـ په ۲ اکتوبر ۱۲۶۶ء شروع شوے وۀ نو کۀ د محرم میاشت د دیرشو ورځو ده نو ورومبې صفر به په ورومبي نومبر وۀ. (د اکتوبر میاشت د ۳۱ ورځو وي) او اووم صفر په اووم نومبر کۀ وفات په ۶۶۶هـ کبنې وۀ لکه چې ن ح کبنې لیکلي دي نو عیسوي تاریخ به ۲۸ اکتوبر ۱۲۶۷ء وي).

۴. یا "کیلو کهیړي".

ص۴۲۴

. د حضرت خواجه مزار شریف په مهرولي زوړ دهلي کبنې له قطب میناره په لږه فاصله دے. د قاموس المشاهیر جلد۲ ص۱۴۳ له رویه حضرت فرید الدین ګنج شکرؒ د دوي خلیفه وو. او د حضرت خواجهؒ وصال په ۲۷ نومبر ۱۲۳۵ء مطابق ۱۴ ربیع الاول ۶۳۲هـ شوے وۀ. د ۶۳۲هـ هندسه مشکوکه غوندې ده. ۶۳۳هـ هم لوستلے کیدے شي. کۀ ۶۳۲هـ وي نو یکم محرم به په ۲۶ ستمبر ۱۲۳۴ء یکم صفر په ۲۶ اکتوبر او یکم ربیع الاول په ۲۵ نومبر او څوارلسم په ۸ دسمبر ۱۲۳۴ء وي کۀ یوه قمري میاشت د ۲۹ ورځو فرض کړو نو ۷ دسمبر کۀ ۶۳۳ وي (لکه چې زمونږ د کتاب فارسي نسخو او پښتو ترجمه کبنې هم درج دے) نو په ورومبي محرم به ۱۶ ستمبر ۱۲۳۵ء په یکم صفر ۱۶ اکتوبر په یکم ربیع الاول ۱۵ نومبر او په ۱۴ به ۲۸ نومبر ۱۲۳۵ء تاریخ وي. او د یوې قمري میاشتې ۲۹ ورځې فرض کولو سره ۲۷ نومبر ۱۲۳۵ء.

ص۴۲۵

۱. فارسي "درمقام خواجه خضر منزل گرفت" (ن ح ۲ ص ۱۲۷).

۲. یعنې "شپول ته".

۳. ن ب "په ملازمت د مخدوم سید جلال بخاري مشرف شۀ او لاس ئې د ارادت په لمن د دې مرشد کامل بنخ کړو. او څو څیلې ئې په خدمت د دۀ تیرې کړے او په خدمت کښې د دۀ په لویو مرتبو مشرف شۀ او په خطاب الخ. څو څیلې (فارسي چندار بعین) یعنې "څو چهلے یوه څیله د څلویښتو ورځو. اردو "چله".

صـ۴۲۷

. پوړسنګ، پاړسنګ، پارسنګ، اندرپایه (فارسي نردبان).

صـ۴۲۸

. وګورئ د سلطان سکندر لودهي حالات او متعلقه نوټونه.

صـ۴۳۰

. ن ح جلد ۲ ص ۱ ۴۷ "ومقبرۀ شریف ایشان درقبیلۀ شیرانی شهرت عظیم دارد"

صـ۴۳۱

"درسفر دریا که به بندر گوه رفته بود در خدمت ایشان شب و روز همراه بود وا کثر خوارق به نظر در آمد ـ شبے در دریا طوفان (پیدا) شد" (ن ح جلد ۲ ص ۴۴۷).

۲. "وچون از سفر گوه معاودت نمود به احمد آباد رسیدیم" (ایضاً)

صـ۴۳۲

. هوسئ، آهو، نر کښه.

۲. کیتهل په مغلواله کښې د دهلي په سرکار کښې داخل وۀ خو په پیرنګواله کښې د پنجاب د صوبې کرنال ضلع کښې شامل کړے شو کرنال مشرقي پنجاب کښې دے. د کرنال نه مغرب څۀ لږ شمال ته واقع دے.

صـ۴۳۳

. وګورئ ص ۴۲۲ (۱). له دغه ځایه (چې د ن ا په ص ۴۲۳ دے) تر ص ۴۴۹ (چې شجرې پرې شروع کیږي) د ن ا عبارت ناقص او نا مکمل دے. نو دغه ټوله برخه (د اوولسم سرېښې ولي نه د راول فقیر تر حالاتو) مونږ په خپل کتاب کښې له ن ب واخسته چې د ن ب له ص ۱۲۵۹ تر ص ۱۴۳۸ ده.

صـ۱۲۷۹

. و الله اعلم بالصواب. ډیرې خبرې پیرانو نۀ دي کړي. مریدان ئې ورپورې وتړي. یا ئې یو شان کړې وي مریدان ئې بل بل شان بیانوي. څۀ ترې کم او څۀ پرې زیات کړي. حکومت الله جل شانه د خپل حکمت سره سم له چا اخلي او و چا ئې ورکوي. دغسې خبرې چې تاسو

۳. ن ب "په ملازمت د مخدوم سید جلال بخاري مشرف شۀ او لاس ئې د ارادت په لمن د دې مرشد کامل ښخ کړو. او څو څیلې ئې په خدمت د دۀ تیرې کړې او په خدمت کښې د دۀ په لویو مرتبو مشرف شۀ او په خطاب الخ. څو څیلې (فارسي چندارِبعین) یعنې "څو څهلے یوه څیله د څلویښتو ورځو. اردو "چلہ".

صـ ۴۲۷

. پوړسنګ، پاړسنګ، پارسنګ، اندرپایه (فارسي نردبان).

صـ ۴۲۸

. وګورئ د سلطان سکندر لودهي حالات او متعلقه نوټونه.

صـ ۴۳۰

. ن ح جلد ۲ ص ۱ ۴۷ "ومقبرهٔ شریف ایشان درقبیلۂ شیرانی شہرت عظیم دارد"

صـ ۴۳۱

"درسفر دریا کہ بہ بندر گوہ رفتہ بوددرخدمت ایشان شب وروز ہمراہ بودوا کثر خوارق بہ نظر درآمد۔ شبے درو دریا طوفان (پیدا) شد" (ن ح جلد ۲ ص ۴۴۷).

۲. "وچون ازسفر گوہ معاودت نمود بہ احمد آباد رسیدیم" (ایضاً)

صـ ۴۳۲

. هوسئ، آهو، نرکښه.

۲. کیتهل په مغلواله کښې د دهلي په سرکار کښې داخل وۀ خو په پیرنګواله کښې د پنجاب د صوبې کرنال ضلع کښې شامل کړے شو کرنال مشرقي پنجاب کښې دے. د کرنال نه مغرب څۀ لږ شمال ته واقع دے.

صـ ۴۳۳

. وګورئ ص ۴۲۲ (۱). له دغه ځایه (چې د ن ا په ص ۴۲۳ دے) تر ص ۴۴۹ (چې شجرې پرې شروع کیږي) د ن ا عبارت ناقص او نامکمل دے. نو دغه ټوله برخه (د اوولسم سرېښې ولي نه د راول فقیر تر حالاتو) مونږ په خپل کتاب کښې له ن ب واخسته چې د ن ب له ص ۱۲۵۹ تر ص ۱۴۳۸ دہ.

صـ ۱۲۷۹

. و الله اعلم بالصواب. ډیرې خبرې پیرانو نۀ دي کړي. مریدان ئې ورپورې وتړي. یا ئې یو شان کړي وي مریدان ئې بل بل شان بیانوي. څۀ ترې کم او څۀ پرې زیات کړي. حکومت الله جل شانه د خپل حکمت سره سم له چا اخلي او و چا ئې ورکوي. دغسې خبرې چې تاسو

اوس ولوستلي سره د نورو ډېرو خبرو چې په دغه برخه کښې شته چې د هغو د منلو دپاره نه خو د کتاب او نه د سنت سند شته. دې کښې شک نشته چې حضرت سرور کائنات صلي الله علیه وسلم یوازې د پښتنو نه وو، د هغوې د سیورې لاندې د دنیا قومونه دي. او هم هغه به ئې خوښ وي چې متقي او د الله خوښ وي. لکه چې ارشاد باري دے "انّ اَکرَمَکُم عندَ اللّٰه اَتقٰکُم" او لکه چې هر څۀ کښې نو د حکومتونو اخستلو او بخښلو په باره کښې به هم د حضرت رسول مقبول صلي الله علیه وسلم رضا د الله جل شانه د رضا تابع او مطابق وي. اسلام په حقه فضیلت او برتري د کوم قوم سره تړلے نۀ ده ګڼلے او اګر کۀ اسلام د قومیت او وطنیت خپل قوم د وطن سره د مینې چې فطرت دے مخالفت نۀ دے کړے خو نظریه، فکر او عمل ئې مقدم ګڼلي دي. خو سوال دا دے چې آیا په کتاب او سنت کښې د دې خبرې څۀ سند شته چې الله جل شانه د ملک اخستنه او بخښنه کوي. نو ترې وړومبې د دغسې مجلسونو انعقاد هم کیږي؟ او آ۔ انبیاء علیهم السلام او اولیائے کرام له دې دنیا له هر څۀ خبر وو اګر کۀ په دغه واقعه کښې خو په واضحه طریقه دغسې خبره نشته خو په مسلمانانو کښې داسې خلق پیدا شوي دي چې حضرت رسول مقبول علیه الصلوٰة والسلام او اولیائے امت ته هم د علم غیب او تصرفاتو نسبت څۀ په دا شان کوي چې د شرک حد ته رسي. او اهل السنت والجماعت او د هغوې علمائے حق ته وهابیان او ځان ته سنیان وائي. بیا دا چې الله جل شانه او د هغۀ رسول مقبول صلي الله علیه وسلم د اکبر او دارا الحاد او زندقه هیڅکله نۀ وۀ خوښه او چې کومې شندې د اکبر او جهانګیر په عهد کښې د منافقانو، د نامې د مسلمانانو او د کفارو دلاسه په مسلمانانو شوې وے او حضرت شیخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني رحمة الله علیه ئې برخلاف جهاد کړے وۀ په هغو نا کردو نۀ الله تبارک و تعالیٰ راضي وۀ او نۀ د هغۀ رسول مقبول ﷺ. خو چې د اسلام شاه د وفات نه پس د عدلي غونډې خندنې او نالائقه سرې په بادشاهۍ هم پښتانۀ راضي شول نو نتیجه ئې د سنت الله مطابق ښکاره شوه.

ص۔ ۱۲۴۳

. لکه چې په تیرو پاڼو کښې تشریح شوې ده د هندوستان د یوې لویې او مشهورې علاقې نوم هم دے. او په پاکستان کښې د مغربي پنجاب د صوبې د یوې ضلعې نوم هم دے چې د جهلم د ضلعې جنوب مشرق ته واقع ده. صدر مقام ګجرات ئې په لویه لاره د جهلم جنوب څخو مشرق ته او د لاهور او ګوجرانوالې شمال څخو مغرب ته واقع دے.

ص۱۲۸۵

. پښتو نسخه "مالبيز" مالنير لکه چې بناغلے پروفيسر امام الدين صاحب د جيرټ د آئين اکبري په حواله ليکي. د دهلي د صوبې په سرهند سرکار کښې يوه قصبه ده. (ن ح جلد۲ ص۷۸۶).

ص۱۲۸۷

. په ن ح جلد۲ ص ۹۰۷ ابتدائي فهرست کښې په شلم نمبر حاجي عبدالله سرواني په متن کښې په ص۷۹۷ "......شيخ الاسلام زين الکرام شيخ عبدالله نيازي ساکن سرهند قدس سره الخ. په ص۷۹۸ ئې سکونت د بيانې په قصبه کښې اختيارول هم بيان شوي دي. د ن ح بيان مقابلتاً مفصل دے او ترې معلوميږي چې دا هم هغه عبدالله نيازي دے چې مهدويه عقيده ئې اختياره کړې وه او بيا ئې ترې توبه کړې وه او د اکبر په عهد کښې په ۱۰۰۰ هـ کښې د نوي کالو په عمر کښې لکه چې بدايوني وائي وفات شوے وۀ. او خواجه نعمت الله چې ورسره خپل ليدل هم بيانوي. وائي چې د وفات په وخت د يو سل ځلويښتو کالو نه اوړيدلے وۀ. (وګورئ بدايوني اردو ترجمه ص۲۷۴ ن ح جلد۲ ص۷۹۷ تر ۷۹۹ او وګورئ د خپل کتاب ص۱۵۸ او نوټونه ئې).

ص۱۲۹۲

پښتو نسخه "بدېلي" بيدولي لکه چې د ن ح فاضل محشي د جيرټ د آئين اکبري په حواله ليکي د دهلي د صوبې د سهارنپور په سرکار کښې د يوې قصبې نوم دے. (جلد۲ ص۸۰۵ حاشيه).

ص۱۲۹۳

پښتو نسخه "والد". ن ح "والده" (ص۸۰۷ جلد۲).

ص۱۲۹۴

د قوسين تر مينځ عبارت زما دے چې له فارسي ترجمه شو. نو د پښتو نسخې په اتم، انم الخ ما يو عدد زيات کړو. په پښتو نسخه کښې د "اووم" نه پس اتم او اتم (زمونږ انم او لسم) دواړه ليکلي دي.

۲. وګورئ ص ۴۳۲ نوټ۲.

ص۱۲۹۵

. ن ح جلد ۲ ص ۸۰۹ حاجي پور (پټنه).

"قصبه بجواره اعمال پنجاب" الخ. ن ح جلد۲ ص ۸۰۹ حاشيه ۲ ضلع ہوشیارپور (مشرق

پنجاب)۔

۳. د حضرت محي الدين ابن عربيؒ کتاب فصوص الحکم.

۴. د مغلوالي د دکن په شمالي برخه کښې. خاندیس(صوبہ بمبئی)

۵. لکه د خپل همنام حضرت شيخ احمد سرهندي مجدد الف ثانيؒ دوي هم چې په آګره کښې د جهانګير دربار ته وغوښتل شول نو د کورنش او سجدې نه ئې انکار وکړو. او جهانګير د ګواليار په کوټ کښې بند کړل آخر د نواب خان جهان لودي په سفارش رها کړل شول او دوه کاله هغهٔ سره په دکن کښې وو. هغه خولانې چې په بندي خانه کښې ئې ور په پښو کړې وې په ډير احترام به ئې خان سره ساتلې او د شپې به ئې د سرو پوړدې لاندې ايښودلې او وئيل به ئې چې د حقيقت په لاره زما لار ښودونکي دي. او ما ترې ډيرې فائدې پورته کړي دي". (ن ح جلد۲ ص ۸۱۰. ۸۱۱ مکمل حالات ص ۸۰۹ تا ۸۱۳).

ص۱۲۹۸

دے شخص.

ص۱۳۰۴

"نقلست کہ درتوحید حق تعالیٰ میان شیخ عیسیٰ سوانی رسالہ تصنیف فرمودہ انداز سہ قسم بزبان پشتو و فارسی و ہندی"۔ (ن ح جلد۲ ص ۸۲۵) . يعنې وائي چې شيخ عيسىٰ مشواني د حق تعالىٰ د توحيد په باب په دريو ژبو پښتو، فارسي او هندي (يا هندکو) کښې يوه رساله ليکلې وه. په ن ز او ن ح دواړو کښې ئې د کلام نمونې په دريو واړو ژبو کښې درج دي. مثلاً:

پښتو:

پخپله کار کړے پخپله انکار کړے	کله عزيز مې کله مې خوار کړے
ته قادر ئې په صفتونو	کله مې نور کړے کله مې نار کړے
عيسىٰ حيران دے په دې صفتو	کله مې يار کړے کله اغيار کړے

فارسي:.

تا نہ شوی مست خدا	غم نہ شور از تو جدا
خوش عالمیست مستی عالم فدائے مستان	آنرا کہ نیست مستی اورا بہ ہیچ مستان

وړومبے "مستان" د مست جمع ده او دويم مرکب دے له مه او ستان چې يو ځائے به د سين په سکون لوستے شي . يعني مهٔ ئې پيره، مهٔ ئې اخله.

هندي:

لکھے ازلی جو گیا لکھ	اس کارن لکھے اتا دکھ

گھر بیٹھے دے دیکی دام — جو لکھو تیرے نام

جو تو کری اللہ یقین — کامل ہوئی تیرا دین

یعني چې "کاتب په ازل کښې څۀ ولیکل په باب نې زار او زیار نه باید. چې څۀ نې ستا په نامه لیکلي دي تۀ به په کور کښې ناست او هغه به در ورسي چې په الله دې ایمان کلک وي نو دین به دې هله کامل وي."

۱ (۱). د شیخ عیسي مشواني د حالاتو نه پس په تاریخ خان جهاني کښې د هغو پښتنو بیبیانو حالات دي چې خدائے تعالیٰ پرې خپل فضل کړے او د ولایت درجه نې وربخښلې ده. وګورئ ص ۴۲۲ نوټ ۱

۲ د افضل خان دغه ویسا محل نظر ده. نعمت الله په ۱۰ ذوالحجه ۱۰۲۱ هـ خپل کتاب خلاص کړے دے او دے مونږ د اکبر او جهانګیر معاصر ګڼلے شو کۀ د همایون عهد نې لیدلے هم وي. نو دویم دور او غالباً چې ډیر کوچنے به وۀ او وګورئ د اتم سربني ولي حالات (خپل کتاب ص ۱۴۳۱ ن ح جلد۲ ص ۷۴۴) چې نعمت الله نې هم عصر او هم صحبت وۀ. بیا لکه چې تاسو په ص ۱۱۹۵ نوټ۵ کښې ولیدل شیخ احمد شون رحمة الله علیه د جهانګیر معاصر وۀ. بي بي موله ولیه (ن ح جلد۲ ص ۸۳۰) د اکبر باچا په زمانه کښې وے. او وګورئ ص۱۲۸۷ نوټ ۱

ص۱۳۰۵

ن ۱ ذکر دے په بیان د امر معروف د اولیاو او افضل د افاضل نجباؤ زبده الخ.

ص۱۳۰۸

وګورئ ص۲۴۷ نوټ ۱

۲. د عهد جهانګیري او عهد شاهجهاني ډیر لوئے عالم او مصنف متوفي ۱۰۶۷ هـ خوشحال بابا په دستار نامه کښې ورته "عالم العلماء مولانا عبدالحکیم سیالکوټي" وئیلي دي او په خپله یوه قطعه کښې نې داسې یاد کړې دے:

مولانا عبدالحکیم — د دنیا د دین حکیم
د جوګیانو و ګروه ته — په تعظیم وۀ په تسلیم
چا انکار ورخنې وکړو — وې نې هیڅ نۀ نې فهیم
د هر چا سره سلوک کړه — دا صراط دے مستقیم

(وګورئ اقبال نامه جهانګیري ص۳۰۸ بادشاهنامه جلد ۱ ص ۳۴۰. ۳۴۱، جلد ۲ ص ۷۵۵ عمل صالح جلد۳ ص ۳۸۲. ۳۸۴. دستار نامه پېښور چاپ ص ۷۶، کابل چاپ

ص۷۳ زما کتاب "خوشحال خان خټک" ص ۳۱۹ حاشیه ۱)

ص ۱۳۱۳

آیه کریمه ۹۳:   . ن ب "فَأَمَّا". ن ا صحیح "وَ أَمَّا".

"او د خپل پروردګار انعامات بیانوه". د سورة والضحٰي (۹۳) په وړومبو آیتونو کښې الله جل شانه خپل رسول مقبول ﷺ ته د خپل تائید او نصرت او د هغوي دې عظیمو کامیابو او په دارین کښې ئې د فوز او فلاح زیرے ورکوي او چې کوم انعامات ئې پرې فرمائیلي دي هغه وریادوي او په آخري (۱۱) آیت کښې ورته امر فرمائي چې د خپل رب نعمتونه، د هغه انعامات چې په تا ئې فرمائیلي دي یادوه او بیانوه ئې. او دغسې د خپل پروردګار شکر کره. نو اګر کۀ د خپلو ښو حالاتو او مقاماتو خان وته نسبت کول او پرې لافې وهل ګناه او لویه ناسپاسي او ګمراهي ده خو د خپل پروردګار د فضل و کرم نتیجه ئې ګڼل او بیانول او دشکر ګزارۍ په طور ئې یادول د الله د هغه امر تعمیل او ثواب دے چې خپل حبیب ﷺ ته او د هغو مبارکو ﷺ په ذریعه ئې د هغوي ﷺ ټول امت ته فرمائیلے دے.

۳. "......نعمت د پروردګار دے.....مصلحت وۀ."

ص ۱۳۱۴

مط ن ا. ن ب "زوي له خان پنجر کړم". غالباً چې په "پنجر" کښې د "ب" او "ے" ټکي یو ځائے کړل شوي دي.

۲. مط ن ا. ن ب "خلاف".

ص ۱۳۱۵

. مط ن ا . ن ب "مرتوت" . (مرقو(ما) ت).

۲. ن ا و ن ب دواړه "هـمـا". "او غیـره" (او غیـر یا نور له هغۀ. وغیره) سره د تثنیې د صیغې د استعمال څۀ وجه نۀ ښکاري. کۀ ضمیر د شیخ مسعود دپاره وي نو واحد "ه" او کۀ د هغۀ او نورو دپاره وي نو جمع "هم" پکار دے.

۳. ن ا "......دو" الخ ګوندې "دې وه" التجائیه وي.

۴. ن ا "بنده له بندګانو دې تا". الخ

ص ۱۳۱۶

. دعا چې عبادت دے صرف الله جل شانه لره ده، صرف هغۀ ته کیدونکې ده. او اجبت هم ئې هم د هغۀ له لوریه دے. او هم مغفرت کوونکے هم هغه دے. جناب سرور کائنات ﷺ به د الله تبارک و تعالیٰ په اذن د امت شفیع وي. او د هغوي ﷺ په خاطر به الله جل شانه د

هغوي ﷺ په امت خاص عنايت او فضل کوونکے وي. مولانا شبير احمد صاحب عثماني مرحوم د آيه کريمه "وَ لَسَوْفَ يُعطِيكَ رَبُّكَ فَتَرضَى. (۹۳:۵) تفسير کوونکے ليکي چې د حديث شريف بيان دے چې حضرت سرور کونين ﷺ فرمائيلي دي چې "محمد (صلي الله عليه وسلم) به تر هغۀ وخته خوښ نۀ وي چې يو امتي ئې هم په دوزخ کښې وي." الله تبارک و تعالي دې زمونږ د ټولو مسلمانانو د کونينو د بادار شفاعت نصيب کړي. الله جل شانه مجيب الدعوات دے او لکه چې ئې فرمائيلي دي "اجيب الدعوة الداع اذا دعان". د هر چا دعا اوري او خواب ئې کوي خو د مومنانو او بيا د اوليائے امت په دعا کښې چې خاص اثر دے نو دا د الله تبارک وتعالیٰ په فضل د حضرت سرور کونين ﷺ د فيض اثر دے.

۲. د ښو خبرو بشارت. زيرے به د حضرت سرور کائنات ﷺ له طرفه او د "ما وُبخښۀ" آواز به د الله جل شانه له طرفه کېدل کيږي.

ص ۱۳۱۷

جمع "احوال" د واحد (حال) په معني

ص ۱۳۱۸

مط ن ا. ن ب "پاتوشه".

ص ۱۳۱۹

ا "احقر"

ص ۱۳۲۵

بنور يا بانور (د رنا لږونکے) مشرقي پنجاب. رياست پټياله.

ص ۱۳۲۶

ن ا "بيان د خوارقو د شيخ نسک له خان عليين مکان چې شيخ نسک قدس الله سره العزيز په تيري پيدا شۀ". گوندې داسي وي "......نسک. نقل دے له خان عليين مکان چې شيخ ....شۀ".

ص ۱۳۲۷

يعني قحط مونږ ورک کړو ن ا "قحطي ورکه کړه" يعني خدائے تعالیٰ ته د دعا په ذريعه قحط ورک کړه.

ص ۱۳۳۲

ا "ذکر په بيان د کراماتو د شيخ بهادر عليه الرحمة".

ص۱۳۳۵

. د حضرت موصوف (چې عام طور سره په ابک صاحب او ابک بابا مشهور دي) مزار د عاشه خیلو کلي ته نزدې جنوب مشرق لوري او کنه خیلو ته زیات نزدې ترې مشرق رویه د بیرې غابنې کنډو نه شمال طرف ته د پېښور ضلعې نوښهر تحصیل کښې دے.

ما په تیرو پاڼو کښې د اکبر پورې قصبې د نبناندهی په لړ کښې لکه چې مشهوره ده لیکلي دي چې د حضرت موصوف پیر حضرت شیخ عبدالوهاب عرف اخون پنجو صاحبؒ وو خو میاں سید سیاح الدین صاحب کاکا خیل په خپل تالیف تذکره شیخ رحمکار کښې وائي چې حضرت اخون پنجو صاحبؒ د شیخ بهادر صاحبؒ مرید او معتقد وو. (ص۱۰۶) والله اعلم بالصواب.

د حضرت شیخ رحمکار عرف کاکا صاحبؒ په واسطه د حضرت شیخ بهادر دینؒ د اولاد نه علاوه اعني د کاکا خیلو نه علاوه نور اولاد ابک خیل بلل شي.

۲. ن ا بیان د کراماتو د شیخ جیو رحمة الله علیه.

۳. ن ا ''کل حاصل''.

ص۱۳۶۴

. مطلب دا دے چې د الله جل شانه په مخلوق کښې د ټولو نه زیات تکلیفات، آزمائشونه او ذمه واری او گرانې سختې انبیاؤ او وربسې اولیاؤ لره دي.

ص۱۳۶۶

۱. لکه چې الله جل شانه سوره آل عمران کښې فرمائي ''اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ'' (آیه ۵) دا هم د هغه ذات تبارک و تعالیٰ دے چې نۀ ترې په زمکه او نۀ په اسمانونو کښې څۀ پټ دي. د هیڅ مخلوق دا شان نۀ شي کیدے د هر مخلوق هر څۀ هم د خالق عطیه ده خو په هیڅا ئې داسې عطا او بخشش نۀ دے کړے چې په څۀ کښې ئې شریک یا سیال شي. نو چې څومره ئې د حکمت تقاضا وه هغه هومره ئې هر چا لره علم ورکړے دے. کۀ څوک دا ووائي چې هغه چا چې د الله جل شانه عرفان حاصل کړو نو بیا پاتې څۀ شو چې له علمه به ئې بهر وي نو خواب ئې دا دے چې هیچا لره د الله جل شانه د ذات او صفات مکمل عرفان حاصلول ممکن نۀ دي. د الله جل شانه په مخلوق کښې ټولو نه افضل انبیاء او رسل علیهم السلام او په هغوي کښې له ټولو افضل او له ټولو اخري جناب محمد مصطفیٰ احمد مجتبي ﷺ دي. هر کله چې هغه مبارک ﷺ په ډیر عجز په بارگاه الٰهي کښې اعتراف او عرض کوي چې ''لا احصیٰ ثناء علیك انت کما اثنیت علیٰ نفسك''. نو بل څوک دے چې د

الله تبارک و تعالیٰ د ذات او صفات د مکمل علم او عرفان دعویٰ به و کړے شي. نو د امت عارفانو هم لکه چې شیخ سعدي د گلستان په دیباچه کښې وائي په بارگاه الٰهي کښې د خپل آقا او مولي ﷺ پـه پیروی کښې همیشه په ډیر عجز، اعتراف او عرض کړے دے چې "ما عبدناك حق عبادتك و ما عرفناك حق معرفتك."

پـه هـر حال مونږ له د حسن ظن نه کار اخستل پکار دي او د نظر د لاندې د قول نه دا مطلب اخستل پکار دي چې د عرفان الٰهي نه مراد هم اضافي عرفان دے او عارف له د هر څیز ظاهریدل هم اضافي دي. په مقابله د عوام.

ص۱۳۸۸

. د خدائے په نزد د هغهٔ په مخکښې د ورځې شپې فرق نشته. دا ئې د مخلوق د ضروریاتو د نظر د وړاندې پیدا کړي دي. نو د خدائے نیک بندگان هم چې څوک هغه په خپلې دوستي ونمانځي عليٰ قدر مراتب په هغو خبرو خبر شي چې بل چا وته نهٔ شي معلومیدے. وګورئ ص ۱۳۲۲ نوټ ۱ د مخلوق علم همیشه اضافي دے مطلق هیڅکله نهٔ دے.

ص۱۳۹۲

. مقامات قطبیه و مقالات قدسیه ص ۱۲۲ تر ۱۲۴

ص۱۴۰۰

. (ا) چـو شـد الـخ. یعنې چو رفت الخ. شدن په فارسی کښې د رفتن په معنیٰ هم راځي لکه چې شاهي سبزواري وائي:

در عشق تو صبر و دل و دینم شد وا کنون
مانده است درین واقعه شاهی تن تنها

(ب) سه هفت، دري اووهٔ. دري خله اووهٔ. یعني ۲۱ سه او سه هفت= ۲۴
(ج) "بافقر رفت" = ۱۰۶۳ هجري ۲۴ رجب ۱۰۶۳ هجري (جون ۱۶۵۳ ء)

د مـقامات قطبیه او مقالات قدسیه د بیان له رویه د حضرت موصوف عمر د وصال په وخت ۸۰ کاله وهٔ. او په ۱۰۶۳ هجري کښې وفات شول. نو په دې حساب په ۹۸۳ هجري کښې د اکبـر بـاچا د جلوس په شلم کال زیږیدلي وو د تاریخ وفات په حقله وائي چې ''تاریخ وفات شیخنا از کلمه کاکا قطب بحساب ابجدي بر آید۔'' یعنې زمونږ د شیخ تاریخ وفات د "کاکا قطب" له کلمې راووځي. (ص ۱۷۴) تاریخ وفات د "شیخ کاکا قطب" له کلمې ۱۰۶۳ هجري راووځي. نو گـوندې په اصل کښې الفاظ داسې وي. تاریخ وفات شیخنا از کلمه "شیخ کاکا قطب". الخ. (وګورئ مقامات قطبیه او مقالات قدسیه او زما کتاب خوشحال خان خټک ص ۶۳، ۶۴).

(د) د حضـرت موصـوف مـزار شـريف پـه زيـارت کاکاصاحب نوي کلي کښې دے چې له نـوښـاره جنوب څخو مشرق او له سرائ اکوړه جنوب مغرب ته تقريباً د اوو اتو ميلو په فصله واقع دے.

(هـ) د حضرت موصوف پينځهٔ فرزندان وو (۱) شيخ ضياء الدين صاحب چې د خوشحال بابا زوم وهٔ او متـاسفانه د اشرف خان هجري (چې د خان بابا زوے وهٔ) د سرو له لاسه شهيد شوي وو. حتـماً نهٔ شو وئيلے چې د اشرف خان هجري د ارادې او حکم پکښې څومره دخل وهٔ. په هـر حـال لـکـه چـې د هغـهٔ له کلامه ښکاري هغه په دغه واقعه ډير غمژن وهٔ. ميان سيد سياح الـدين صـاحـب کـاکـاخيـل پـه خپـل کتـاب "تذکرة شيخ رحمکار" کښې ليکي چې سردار خـوشـحـال خـان د وفـات نه پس د هغهٔ په اولاد کښې د بهرام او اشرف خان تر مينځه تنازعه وشـوه. او هـر کـلـه چـې اشـرف خـان په بهرام خان ډيره زياتي کوله نو بهرام خان شيخ ضياء الـدين صاحب څخه پناه واخسته اشرف خان په دغې خبرې ډير خفه شو او له دې قبله په شيخ صـاحـب موصـوف د شهادت جام وڅښولے شو. په دې ضمن کښې د ص ۱۴۱ حاشيه ۲ کښې دا هـم ليـکـي چـې د بهـرام خـان سکه خور د شيخ صاحب موصوف بي بي وه. (ټول بيان ډير مـفـصـل دے. وګـورئ ص ۱۴۱ تـر ۱۴۷) په دې لړ کښې به دومره عرض وکړو چې د شيخ ضيـاء الـديـن صاحب اختلافات نهٔ صرف اشرف خان سره وو بلکې خوشحال بابا سره ئې هم اختـلافات وو چې حال ئې تاسو ولوستلو. د سخر او د زوم د پلار او زوې معامله وه. کهٔ ضياء الـدين صـاحب د خوشحال بابا د مرشد زوے وهٔ نو د رشتې له رويه ئې خوشحال بابا په منزله د پـلار وهٔ. پـه هـر حـال پـه دغه شخړه انتقاد او نکته چيني څهٔ عملي فائده نهٔ لري. افسوس دے چـې د اشـرف خـان او ضيـاء الـدين صاحب اختلاف داسې شکل اختيار کړو چې ورروستو ياد شـوے صـاحب ئې د نتيجې په طور شهيد کړے شول. انـا لـلـه و انا اليه راجعون. د ميان سيد سيـاح الـديـن صـاحب د بيان نه لازماً دا اخذ کيږي چې شيخ ضياء الدين صاحب د خوشحال بـابا د وفات نه ورروستو شهيد کړي شوي وو. حال دا چې اشرف خان د خوشحال بابا په ژوند کښـې پـه جـمـادي الاول ۱۰۹۲ هـجري (مئ ۱۶۸۱ء) کښې په پيښور کښې د جمرود نه د واپسـې نـه پـس ګـرفتار شوے وهٔ. هندوستان ته وليږلے شو او هم هورې د بيجاپور (دکن) په بندي خانه کښې په ۱۱۰۶ هجري (۹۵-۱۶۹۴ء) کښې د خوشحال بابا د وفات نه شپږ کاله پـس وفـات شو. (وګورئ خپل کتاب ص ۴۰۶، ۴۰۷ او ۴۰۲. او زما کتاب خوشحال خان خـټـک ص ۲۰۲ تـر ۲۰۴ او ص ۲۳۰) بهرام سره د شيخ ضياء الدين صاحب د رشتې په باره کښـې د "تذکره شيخ رحمکار" د مؤلف وينا هم مبهمه او محل نظر ده. اشرف خان، سعادت

خــان، بهــرام خان، نظام خان، يحييٰ خان او شهباز خان شپږ واړه زامن د خوشحال بابا، له يوې بي بـي او سـكه ورونه وو. (وگورئ خپل كتاب ص ۲۲۰، ۲۲۱ او زما كتاب خوشحال خان خـټـک ص ۲۳۰ و ۲۳۱) نـو كـهٔ د ضياء الدين صاحب بي بي د بهرام خان سكه خور وه نو د اشـرف خـان هـم . د دغـو خـاميو له قبله د مؤلف موصوف نور بيان هم څخو محل نظر شي. د حضرت شيخ رحمكار د نورو فرزندانو نامې دا دي:

(۲) شيخ محمد گل صاحب عرف حاجي محمد بابا.

(۳) شيخ خليل گل صاحب عرف مزرے بابا.

(۴) شيخ عبدالحكيم صاحب عرف حليم گل بابا.

(۵) نجم الدين صاحب په طفوليت كښې وفات شوي وو. رحمهم الله.

د حـضـرت شيـخ رحـمـكـار رحـمة الله عـليــه اولاد لـه څلورو واړو فرزندانو ډېر او پښتـونـخـوا كـښـې خور دے. د حضرت موصوف گڼ مريدان او عقيدتمندان وو. چې څنو ته پـكـښـې د حـضـرت شيـخ جي د جـانشيـنـي شرف هم حاصل شوے دے. چې په ديو كښې د حـضرت موصوف د فرزندانو نه علاوه د خوشحال بابا ورور جميل بيگ عرف فقير صاحب، شيـخ بـابـر بابا، شيخ دريا خان څمكنے رحمهم الله ډېر مشهور دي. (مقامات قطبيه و مقالات قـدسيـه ص ۱۷۷، ۱۷۸ او تـذكره شيخ رحمكار ص ۱۲۴ تر ۱۳۷) د تذكره شيخ رحمكار مـؤلف جـمـيـل بيگ پـه خـائـے خـواجـه جمال الدين ليكي. او د قياس په بنا وائي چې غالباً دا جـمـيـل بيگ يـا جمال خان دے. (ص ۱۲۵، ۱۲۶) په مقامات قطبيه او مقالات قدسيه كښې پـه پيـنـخـم نمبر ليكلي دي. "شيخ جميل بيگ صاحب امير خٹک کہ اکنون مشہور بہ فقير صاحب است" (ص ۱۷۷) او له دې وړومبے وائي چې جميل بيگ د شيخ رحمكار مريد او د شيخ يحيي عرف حضرت جي صاحب اټک پير وهٔ. (ص ۱۷۵)

صـ ۱۴۰۱

۱. قاضي ولي محمد صاحب د سرائ اكوړه خټک.

صـ ۱۴۰۸

. وگورئ ص ۴ نوټ ۱

صـ ۱۴۰۹

. ازاريان له ازاره اگاهو ووژنئ.

صـ ۱۴۱۸

. د اورنـگـزيـب د جـلـوس لسم كال (۱۰۷۸ هجري) كښې چې يوسفزيو كوم بغاوت

کړے وۀ او تاسو ئې په خپل کتاب کښې حال په ص ۲۵۰ ولوستو د هغۀ په لړ کښې سرکاري مؤرخ مرزا محمد کاظم په عالمگير نامه کښې ليکي چې ملا چالاک د بهيرې او خوشاب يو ملا وۀ چې يوسفزي ئې د خپل مکر په جال کښې گرفتار کړي وو او يوسفزيو د هغۀ او بهاگو خان په صلاح مشورې يو گمنام سړے د محمد شاه په نامه خپل بادشاه کړو. او بغاوت ئې وکړو. (وگورئ عالمگير نامه ص ۱۰۴۱ او زما کتاب خوشحال خان خټک ص ۱۱۲) آيا زمونږ د کتاب اخوند څالاک او د عالمگير نامې ملا چالاک يو سړے خو نۀ دے.
۲. ن ا "ذکر د فقير جميل بيگ" الخ.

ص ۱۴۳۳

۱. فقير صاحب د خوشحال بابا سکه ورور وۀ. (وگورئ د خپل کتاب ص ۲۲۰) معلومېږي چې د پلار د وفات نه څۀ موده پس ئې فقيري او درويشي اختيار کړله او د حضرت شيخ رحمکار صاحب د مريدانو په حلقه کښې داخل شول. خوشحال بابا د فراقنامې په يوه مثنوى کښې سرائ او د خټکو ملک ستائي. او د فقير صاحب ذکر هم پکښې کوي وائي:

شيخ رحمکار په کښې پيدا دے	دې ما پلار په کښې پيدا دے
شيخ رحمکار دے په کښې اېښے	دې ما پلار دے په کښې اېښے
خاک پائ د شيخ رحمکار شم	د خپل پلار د تربت خار شم
دا شـــــرف د دۀ بسيـــار دے	چې په کښې د شيخ مزار دے
چې په کښې د شيخ ياران دي	هغه غرونه گلستان دي
چې مې ورور په کښې طاعت کا	هغه غر دې خدائے جنت کا
خدائے دې غم ورځني يوسي	خوش خرم دې په کښې اوسي
چې د ورور مې پرې مقام دے	په غه غر دې ما سلام دے

په ۱۰۸۰ هجري (۷۰-۱۶۶۹ء) کښې ليکلے شوې يوه قصيده کښې وائي:

يو مې سکه ورور دے چې ئې لار د حق نيولے
دوه ورونه مې نور دي يو په نم دويم بې نمه

د حضرت موصوف مزار درگي او تنگاړو ته نزدې د دواړو تر مېنځه له ورومبي ځايه شمال مشرق او له دويمه جنوب ته د پيښور ضلعې د نوښار تحصيل په خټک نامه کښې واقع دے. د زيارت کاکاصاحب نه جنوب مشرق ته دے. د فقير صاحب اولاد په فقير خيلو ميانگانو مشهور دے.

ص۱۴۳۷

د پښتنو اولیاؤ تذکره ختمه شوه. له دغه ځایه عبارت بیا د ن ا د صفحو مطابق دے.

ص۴۴۹

. زمونږ د کتاب او د ن ح او ډورن او بیا لکه چې د ن ح له حواشي او د ډورن له تعلیقاتو معلومیږي د تاریخ خان جهاني مخزن افغاني د مختلفو نسخو تر مینځه تر ځو چې د انسابو د جزیاتو تعلق دے ډیر اختلاف دے. مونږ د دغو ګردو اختلافاتو نښاندهي کول ضروري ونهٔ ګڼل. البته یو څو ځایونه مو چې اهمیت ئې درلۀ په ګوته کړل.

۲. د ن ح جلد ۲ ص۵۶۵، ۵۶۶ او حواشي حاصل دا دے چې د اورمړ څو فرزندان وو او هر یو چې کوم ځائے میشته شو هم د هغه ځائے په نامه جوت شۀ. او د فرزندانو نامې ئې داسې ښنیلے شوي دي. سنکتولي، منتولي، مشکور، شکوني، زیق، مشوني، جلویان، دهري، کانیګرم، جران، خضران، کرتیخ، زیرنګ، رالجامي، ملتان، سیداني، دوئي، سلیخیل، برکي، بختیار او بابر (بابړ).

په متن (ص ۵۶۶) کښې د کاني ګرم نه پس بوکي، خردمندان، جران او حدران دي. یو بل نوم زران هم شته. ګوندې زران او جران هم یو نوم ځران وي او سکه د متن حدران د حاشيې خضران وي. د متن ملتان په حاشیه کښې ملتائي دے. په حاشیه کښې بختیار نشته. البته ورسره دا الفاظ ته‌ل شوي دي ''وبعدازین درنسخه ب اوراق ۳۶۰۳۵۷ نسب بختیار و مشوانی و وردک ذهنی نوشته که در فصل سیوم ذکرخواهد شد۔'' د متن سلي خیل په حاشیه کښې (سے خلیل) دے. باید چې دلته دا یادګیرنه هم وشي چې جلواني، میاني، سیداني، بختیار او بابړ په شیرانیو کښې شمیرلے شوي دي.

زمونږ نسخه اورمړ ته د شرکبون یا شرخبون (چې اصلي نوم ئې شرف الدین یاد شوے دے) زوے وائي او د شرخبون د لوهار په لُور مئینیدل، ودول ئې او ترې اورمړ زیږیدل یادوي. خو له ن ح او ډورن هسې معلومیږي چې د شرخبون زوے امردین یا عمر دین وۀ. هغه د پښ (لوهار) په لُور مئین شو وادۀ ئې کړه او ترې اورمړ چې اصلي نوم ئې عبدالله وۀ وزیږید. (وګورئ ن ح جلد ۲ ص ۵۵۰، ۵۵۱، ۵۶۵، ۵۶۶ او ډورن حصه۲ ص ۵۱ او ۱۲۲ په مسلسل د دویمې حصې د صفحاتو.)

د اورمړ مشهورې او لویې تپې په جنوبي وزیرستان کښې کاني ګرم محسودو سره او . پیښور په نوښار تحصیل کښې درې لوے کلي اورمړ بالا، اورمړ میانه او اورمړ پایان دي. هغه کلي د پیښور ښار نه جنوب مشرق ته تقریباً د لسو یوولسو میلو په فاصله یو بل ته نزدې . پیښور ضلعې (پیښور او نوښار تحصیلونو) په هغې برخې کښې دي چې متفرق قبائل پکښې

اباد دي. د کاني کورم د اورمړو خپله ژبه (اگر کهٔ پښتو هم وائي) اورمړي ده خو د پښتور د اورمړو ژبه هم پښتو ده. د دغو لويو مشهوررو تپو نه علاوه د اورمړ يوه وړه تپه د زرمت په شمالي برخه کښې د جلال آباد جنوب مغرب او د کابل جنوب مشرق ته هم شته.

ص ۴۵۰

۱. مط ن ح جلد۲ ص ۵۵۴ او ډورن حصه ۲ ص ۱۴ زمونږ نسخه مرسال.

۲. مط ن ح جلد۲ ص ۵۵۵ او ډورن حصه۲ ص ۴۲ پښتو ترجمه مؤدخيل.

ص ۴۵۱

. زمونږ نسخه "مهيکل". ن ح جلد ۲ ص ۵۶۰ "هيکل". او حاشيه "هيل" ډورن حصه ۲ ص ۴۲ هم "هيکل".

۲. ن ح جلد ۲ ص ۵۶۳ "سنهومت". (و سورت نيز گويند) . ډورن حصه ۲ ص ۴۳ "سومت".

۳. ن ح جلد ۲ ص ۵۶۳ "(خرشبين سيدزاده بود که اورا بفرزندی کلان کرده بود)".

۴، ۴ الف. مط ن ح جلد ۲ ص ۵۶۴. حاشيه ۱ په حواله د يوې نسخې "د اولغ بن پرنخي" ډورن جلد۲ ص ۴۳ "د اودتغ".

ص ۴۵۲

۱. د خپل کتاب ص ۲۰۲ سره دې لې مقابله وکړل شي. د کند او د هغهٔ د دوؤ زامنو غوراء او شيخا (غوري او خښي) د اولاد دپاره د خپل کتاب ص ۱۹۶ ـ ۱۹۸ هم وګورئ.

ص ۴۵۸

۱. زمونږ نسخه "او له حسنه شپږ زهمن وشول. فريد، نظام، سليمان، احمد، ملا علي، يوسف، بنادي خان." دغسې هم شپږ نه بلکې اووهٔ زهمن جوړيږي. "ملا علي" يو نوم نه بلکې دوه نومونه "مدا" او "علي" دي دغسې اتهٔ زهمن شول. مونږ د ن ح جلد۲ ص ۱۱۲ په بنياد درستي وکړه. هم وګورئ خپل کتاب ۸۷ نوټ ۱ ډورن جلد۲ ص ۵۰ هم د حسن اتهٔ زهمن يادوي. خو په نامه صرف د فريد مخاطب په شير شاه ذکر کوي. چې په ۹۴۶ هجري کښې د هندوستان په تخت کښيناست. په تعليقاتو کښې د اتو واړو نامې بنيي. (ص ۱۲۸ د دويمې برخې د صفحو په تسلسل)

۲. ن ح جلد ۲ ص ۶۱۱ "ذکر اولاد فريد بن حسن المخاطب به شير شاه اوده پسر داشت ـ اول عادل دوم اسلام شاه سيوم قطب خان چهارم نصرت خان پنجم کمال ششم سليم خان هفتم رکن خان هشتم رشيد خان نهم نورخان دهم قائم خان".

او حاشيه ۱۲ نسخهٔ سوسائټي ۱۰۲ ورق ۱۷۲ الف "فريد بن حسن که بزرگ است ملقب به شير شاه شده درسنه

نہ صد و چہل و شش بر سریر سلطنت ہندوستان جلوس فرمودہ او را پنج پسر بہ وجود آمدند اول عادل خان دوم قطب خان سوم جلال خان الملقب بہ اسلام شاہ چہارم عبدالرشید پنجم کمال خان'' نو زمونږ په نسخه کښې سره د دې چې د فريد لس زامن ياد شوي دي نامې د نهو راغلي دي د اسلام خان نامه پرېښودلې شوې ده. چې نوم ئې جلال خان وۀ. او لکه چې زمونږ د کتاب په مخ ۱۳۸ (ډورن حصه ا ص ۱۴۲) کښلي دي اول نوم ئې عبدالجليل وۀ. په ښو خدمتونو او لائق ترددونو شير شاه په خطاب د جلال خان مخاطب کړو. د عادل خان نامه علاول خان او د قائم خان، قاسم خان ليکلې شوې ده. اګر کۀ زمونږ په نسخه کښې د شير شاه په زامنو کښې د سليم خان نامه راځي او د جلال خان بادشاهي لقب په ځنو کتابونو کښې سليم شاه او اسليم شاه هم راغلے دے خو په ن ح کښې اسلام خان په دويم نمبر او سليم خان په شپږم نمبر بيل بيل بيان شوي دي.

ص ۴۶۴

. د کرلانړ د اولاد خصوصاً د ختکو د خيلونو ذيلونو او تپو دپاره د خپل کتاب ص ۲۱۷ تر ۲۲۷ هم وګورئ.

۲. ډورن حصه ۲ ص ۵۵: "د اورکزي اولاد ـ په حقله د نسب د بختيار، اشتراني، هوني او وردک له هغوي راتلونکې بيان کوي الخ." ن ح جلد ۲ ص ۶۴۲: ''ذکر در بیان بختیار و اشترانی و ہنی و وردک کہ از شیرانی وغیرہ منشعب شدہ اند۔''

۳. ن ح جلد ۲ ص ۶۴۲ ''از قصبہ اوش من توابع بغداد''. ډورن حصه ۲ ص ۵۵ ايضاً.

۴. په پښتو ترجمه کښې "و غرۀ ته د استفرحه" ډورن حصه ۲ ص ۵۵ "ماؤنټ اشنګر" يعنې اشنګر يا اشنغر غر. تعليقات ص ۱۳۰ "کشکا..." کے اے ایس ایچ کے اے..." مخکښې پانه وينۀ وهلې ده. ن ح جلد ۲ ص ۶۶۲ "بکوه کشنغر" حاشيه ۳ په حواله د يوې نسخې "کسيغر" په مخ متن کښې هم کوه کسيغر يعنې کسي غر.

۵. ډورن حصه ۲ ص ۵۵ "يوۀ افغاني د شيراني قبيلې خپله لور چې سنجتي نوميده ور وادۀ کړه. ن ح جلد ۲ ص ۶۴۲ ''شخصے از مردم شیرانی [سنجر نام حالت و افعال سید اسحاق معلوم نمودہ] دختر عاجزہ خود را باو نسبت کردہ۔ (نام دختر او شیخی بود) نيغې ليندې د بانکي پور خدا بخش لائبريری د نسخې ملا ماتې ليندې د ايشياټک سوسائټي کلکتې د نسخې او تاؤ ليندې د رامپور سټيټ رضا لائبريری د نسخې علامت دي او تاؤ ليندې او هندسه څلورمې حاشيې ته اشاره ده چې د مخزن د يوې نسخې په حواله دغسې ده. ''عاجزہ خود را شیخی نام باو نسبت کرد''. نو د متن د عبارت مطلب دا شو چې د شيراني قبيلې يوۀ سړي چې سنجر نوميدۀ د سيد اسحاق حال احوال معلوم لو نه پس خپله لور شيخي يا شيخه نومې ور وادۀ کړه او د حاشيې له رويه ئې د لور نوم سنجتي يا سنجته وۀ.

۶. ن ح جلد ۲ ص ۴۴۲ : ''اورا[سید حبیب نام کردند او بہ]ابی سعید مشہور شدہ''۔

۷. ډورن حصه ۲ ص ۵۵ ایضاً. ن ح جلد ۲ ص ۴۴۲ : ''پس از چندگاہ سید اسحاق رااردہ وطن شد۔ برخصت ین قوم متوجہ اوش گشت چون دررا [قصبہ اوش (۵)] کہ وطن طائفہ مشوانی است رسید''۔ الخ. په حاشیه کښې د نسخه الف (په متن کښې علامت () لکه چې د جلد اول په ابتدا کښې ښنیلے شوے دے) یعني د رامپور سټیټ رضا لائبریری د نسخې په حواله ''راه'' لیکلي دي نو باید چې عبارت داسې ولوست شي. ''۔۔۔۔۔چون درراہ کہ وطن مشوانی است رسید''۔ الخ او دغسې به د ډورن انګریزي او زمونږ پښتو ترجمې عبارت سره سم او غالباً چې صحیح وي.

ص ۴۶۶

. وګورئ ص ۴۲۲ نوټ ۲. هر کله چې د پښتنو د نسابانو په نزد بختیار د شیرانیو او شیرنې د سړبنیو څانګه ده. او د بختیارو مورث اسحق نومې سید وۀ. د بغداد له اوشه راغلے په شیرانیو کښې میشتۀ او وادۀ شوے وۀ. او اولاد ئې هم په دیو کښې پاتې شو نو بختیار په ږۀ وخت سیدان او پښتانۀ شمیرلي شوي دي. له ذې قبله حضرت قطب الاقطاب قطب الدین بختیار کاکي رحمة الله علیه ته اوشي وونیل شول. خو د پښتنو د نسابانو بیان د نظر د وړاندې موصوف حضرت یا ئې والد ماجد احمد بن موسیٰ ته به ئې د بغداد د اوش ساکن وئیل محل نظر وي.

۲. کامَلپور هم په دغه هجه (لکه چې په نقشه کښې په لاطیني حروفو لیکل شوے لیدۀ شي) د اټک یا کیمبلپور ضلعې یو کلے دے خو کیمبلپور ضلع او صدر مقام ئې هم په عوامي تلفظ کښې کاملپور بلل شي. کاملپور کلے د ضلعې د مشهورې قصبې حضرو نه په لږه فاصله شمال مشرق ته او موسیٰ کلے هم حضرو ته نزدې ترې جنوب ته واقع دے.

۳. د ن ب کاتب په دغو الفاظو کتابت ختم کړے دے: ''ډیر ډیر شکر او حمد یو خدائے لره چې خالق د زمکې او د آسمان دے. پالونکے د تمام عالم او د کل جهان دے چې دا کتاب مستطاب یعنې تاریخ مرصع تصنیف د افضل خان چې نمسے د خوشحال خان ختک دے حسب الحکم د مهربان قدردان صاحب د علم او حکمت واقف د هر مذهب او ملت مروج د دین عیسوي مشید د ملت مسیحي جناب معليٰ القاب قیس پادري هیوز صاحب په قلم د مولوي محمد حسن په ښهر پښاور کښې په اتویشتم تاریخ د میاشت د اپریل ۱۵۸۵ء یو زر اتۀ سوه پینځۀ اتیا عیسوي مطابق درویشتم تاریخ میاشت د رجب ۱۳۰۲ هـ یو زر دیارلس سوه دوه هجري کښې کښلے شۀ.

یلوح الخط في القرطاس دهراً   و کاتبه رمیمٌ في التراب

څو نور نوټونه

(۱). ص ۱۳ "لـه سام نه ارفخشد په وجود راغـے او له دهٔ نه صالح پيدا شهٔ. له صالح نه عابر چې هود النبي ورته وائي". الخ.

فـارسـي نسـخې (ن ح جلد ۱ ص ۱٦): " از سام ارفخشد بہ وجود آمد واز ارفخشد شالخ متولد شد واز شالخ غابر کہ ہود النبی گویند"۔ الخ.

حاشيه ۴ مبني په تاريخ طبري: "------عابر بن شالخ بن قینان بن ارفخشد بن سام" الخ او د كتاب الاخبار الطوال په بنا: "-----شالخ بن ارفخشد"۔

بيـا وګـورئ د خپـل كتـاب ص ۴۳ "......هود عليه السلام بن عابر (۱۰) بن شالخ (۱۱) بن ارفخشد(۱۲) بن سام" الخ.

او حـاشيـه ۱۰ كښې د ب يعنـې بـانكي پـور خـدا بـخـش لائبريرى د نسخې او د بيليو د "افغـانسـتـان" پـه حـوالـه د غابر په ځائے عابر او په حاشيه ۱۱ كښې د ب په حواله د شالخ په ځائے صالح. نو اول خو (زمونږ د كتاب په ص ۱۳ او د ن ح جلد ۱ په ص ۱٦) شالخ يا صالح د غـابر يا عابر پلار ښئيلے شوے دے. او عابر يا غابر ته هود النبي ونيلي شوي دي. او بيا (زمونږ د كتـاب په ص ۴۳ او د ن ح جلد ۱ په ص ۱۰۹) عابر (يا غابر) او صالح (يا شالخ) په ترتيب د هـود عـليـه الـسـلام پـلار او نيـكهٔ ياد شوي دي. په هر حال لكه چې مونږ په متعلق نوټ كښې وړومبے خبردارے كړے دے. دغه صالح يا شالخ كهٔ چرې د حضرت هود عليه السلام پلار يا نيـكـهٔ وي نـو حـضرت صالح پيغمبر عليه السلام چې په قرآن كريم كښې ئې ذكر راغلے دے نشي كيدے. ولې چې دغه مبارک د هغهٔ بل مبارک نه وروستو وو.

(۲) ص ۳۳ "مـوضع دهده" (فارسي نسخې "موضع هده") د ن ح فاضل محشي په موضع هـده ليكلي شوې حاشيه (ص ۸۱ حاشيه ۲) كښې وائي "موضع الهده درمیان مکہ وطائف است رجوع کنید بہ معجم البلدان جلد چہارم صفحہ ۹۰۷". زمـا په مخكښې د "دي ريډرز ډائجسټ ګريټ ورلډ ايټلس" كښې پـه پـليټ نمبر ۲۷ (د وسطيٰ مشرق ، تركي، عراق، ايران ، افغانستان او سعودي عرب نقشه) كښې مـكـې معظمې ته نزدې مغرب رويه هده او بيا له هدې مغرب ته نزدې تهامه نومې ځائے دے. دغـه ټـول ځـايـونـه لـه جـدې مشرق څخو جنوب ته دي. طائف له مكې معظمې جنوب مشرق ته دے. حضرت خالدؓ چې له مكې معظمې و مدينې منورې ته په بارګاه رسالت كښې د حاضرۍ دپاره تلل نو سهيل لوري ورته د تلو څهٔ ضرورت نهٔ وهٔ. ولې چې مدينه منوره له مكې معظمې شمال ته ده.

(۳) ص ۴۰ و ۴۱: "ابو عبيدهؓ او خالدؓ په تضرع او په زارى په درگاه د حق تعالي خواست د فتح وکړو. او رسول الله ﷺ وسيله ئي د خپلې فتحې او د ظفر کړ......(۱۴۱) ......جهجاه غفاري التجا و درگاه ته د پروردگار يوړه او له حق تعالىٰ نه ئي توفيق او مدد او له روح پاکه او له قبره معطره ئي د حضرت رسول الله دعا وغوښته". الخ.

ن ح جلد ۱ ص ۱۰۱ و ۱۰۲: "ابوعبيده وخالد تمام شب به دعاوزاری ونياز تمام الحاح مالاکلام به درگاه قاضی الحاجات استدعا فتح می نمودند و آن سرور راصلی الله عليه وسلم وسيله فتح و فيروزی ساختند ـــــــــــ ص ۱۰۲ ـــــــــــ جمعی از جوان مردان اعراب خصوصاً جهجاه غفاری التجابذات بيچون حضرت واهب العطيات واستمد اداز روح منور ومطهر ومعطر خلاصه کائنات نموده". الخ.

ډورن جلد ۱ ص ۳۶: "........د پيغمبر د مقدس روح نه ئي امداد وغوښتو" الخ قطع نظر له دې خبرې چې دغه جزئيات او تفصيلات په کوم معتبر تاريخ کښې راغلي دي کهٔ نه (تاريخ خان جهاني مخزن افغاني د نظر د وړاندې زمانې د واقعاتو دپاره د سند حيثيت نهٔ لري) د حضرت جهجاه غفاريؓ د دعا په حقله چې څهٔ وئيلي شوي دي د هغهٔ نه به هم دغه مطلب اخستل پکار وي چې حضرت موصوفؓ د سرور کائنات عليه الصلوٰة و السلام په روئے مبارک او د هغوي په طفيل او خاطر د الله تعاليٰ نه امداد وغوښتو. په نورو الفاظو کښې لکه چې د حضرت ابوعبيدهؓ او حضرت خالدؓ په حقله وئيلي شوي دي چې هغوي سرور کائنات عليه الصلوٰة والسلام خدائے تعاليٰ جل شانه ته وسيله کړو نو هم دغه شان حضرت جهجه غفاريؓ هم باري تعاليٰ ته د هغهٔ محبوب او مقبول رسول ﷺ وسيله کړو. ما فوق العاده او فطرت امداد چې په طبعي او ظاهري اسباب، وسائل او ذرائع منحصر نهٔ وي. بلکه دغه هر څهٔ هم، هم د الله تعاليٰ په امر په وجود او عمل کښې راځي صرف هم د الله تبارک و تعاليٰ د طرف نه دي او غوښتل ئي هم صرف د هغهٔ جل شانه نه دي. لکه چې هغه او صرف هم هغه د دې وړ دے چې عبادت ئي وشي. نو هم دغسې صرف هم هغه د دې خبرې هم وړ دے چې مدد ترې وغوښتے شي. او د اسلام په دغه او نورو تعليماتو د حضرت سرور کائنات او نورو پيغمبرانو ﷺ نه پس صحابه کرام رضي الله تعاليٰ عنهم د هر چا نه زيات عمل کونکي وو. حضرت امام شاه ولي الله صاحب رحمة الله عليه په دغه موضوع او متعلقو مسئلو په خپلو رسالو "البلاغ المبين في احکام رب العالمين و اتباع خاتم النبيين" او "تحفةُ المؤحدين" کښې ډير مفصل او مدلل او جامع بحثونه فرمائيلي دي. په وړومبي کتاب کښې د دې خبرې د ثابتولو نه پس چې حضرت سرور کائنات ﷺ هيڅکله هم باوجود د هغو گرانو سختو چې هغو مبارکو ته وړپيښې وے. د وړاندينو انبياؤ عليهم السلام د مبارکو ارواحونو نه مدد نهٔ وهٔ غوښتے. ليکي "اگر پير پرستان گويند که آنحضرت ﷺ خود پيغمبر بود لهذا ارواح بزرگان رادر جلب فيض الٰهی واسطه نساخت و

درمهمات خود بے واسطہ ایشان متوجہ جناب اقدس اوتعالیٰ گردیدہ۔ ماکہ این ارواح را واسطہ میگردانیم پیغمبری نداریم۔

ع چہ نسبت خاک را با عالم پاک۔ آن جاہلان را باید فہمانید کہ ابوبکر صدیق وعمر فاروق وعثمان وعلی مرتضیٰ وامام حسن ودیگر صحابہ رضی اللہ عنہم پیغمبر نہ بودند وگاہے مانند شا ملتجی وحاجت خواہ، از قبر شریف پیغمبر ﷺ نشدند۔ ابوبکر صدیقؓ زیادہ از دو سال خلیفہ آنحضرت بود و انواع مشکلات ہمدرین اثنا در پیش آمد ہیچ کس از راویان اخبار صحیحہ نیاوردہ است کہ ابوبکرؓ در فلان مہم استغاثہ واستعانت بہ قبر شریف آن سرور کردہ بود نعوذ باللہ من ذٰلک''۔ (لاهور ایډیشن ص ۴۵ کراچي ایډیشن ص ۱۱۹ ۱۲۱).

(۴) ص ۱۴۴ کانت کوله: ....پرگنه د کانت کوله په طریق د نبهنک و عیسي خان ته مرحمت کړه او پینځهٔ زره اضافه ئې ور کړه".

تاریخ شیر شاهي ص ۲۱۳ ''مسند عالی عیسیٰ خان۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔ درسرکار تعین نمود وحکم فرمود کہ پرگنہ کانت کولہ وتلہر از برائے اہل وعیال سواران قدیم ترا بطریق تنخواہ دادم وپنجہزار سوار جدید نگاہدار''۔ دې نــــه ورومبې ص ۱۰۱: "مهـر سـلطان، در عهد دولت سلیمان جلال الدین محمد اکبر بادشاه درسنه ۹۷۵ (نهٔ صد هفت و پنج) مهر سلطان پرگنه کانت جانب سند مي رفت" درخانه مظفر خان وفات یافت".

[په بره فارسي جمله کښې "۹۷۵ (نه صد صفتاد و پنج پکار وهٔ)" دغسې د "پرگنه کانت جانب سند مي رفت" په ځائے " در پرگنه کانت چون (یا وقتیکه) جانب سند مي رفت" پکار وهٔ]

بیا ص ۱۸۵ ''قطب خان آمدہ با مسند عالی (عیسیٰ خان) عرض کرد کہ من بہ اعتاد شما پیش شیر خان سخن گفتہ آمدہ ام۔ مسند عالی عیسیٰ خان لکھور با قطب خان گفت کہ حضرت خان فرماید چی سخن است۔ قطب خان گفت بعد از قبول اظہار آن سخن خواہم کرد۔ چون مخالفت معقول نہ بود مسند عالی عیسیٰ خان سخن قطب خان قبول نمود۔ بعدہ قطب خان عرض کرد کہ حکومت سرکار سنبھل می باید اختیار نمود کہ دولت خواہ توام و پدر شیر خان و پدر من پیش جد تو مسند عالی عمر خان نوکر بودند تا ہم (زندہ ام) حق نمک شما بجا آوردہ باشم۔ مسند عالی عیسیٰ خان لکھور حکومت سرکار سنبھل قبول نمود شیر خان پرگنہ کانت وکولہ برائے اہل وعیال او داد وحکم کرد کہ پنجہزار سوار نگاہدارند''۔

په ص ۲۱۳ کانت کوله یو نوم دے خو په ص ۱۰۱ صرف کانت دے او بیا په ص ۱۵۸ د کانت او کوله تر مینځه واو دے. او داسې دوه نومونه کیږي.

د تاریخ شیر شاهي فاضل محشي چې هم د دغه کتاب کومه انګریزي ترجمه کړې ده د هغې په ص ۷۳ حاشیه ۴ کښې لیکي چې کانت او کوله د سرکار بدایون دوه پرگنې وے. (ص ۷۳ د ترجمې فارسي اقتباس ص ۱۰۱ سره سمه ده) کانت له شاهجهانپوره لس میله سهیل لویدیز ته دے. دلته د دلچسپۍ خبره دا ده چې کانکوله یا کنکوله د پیبنور ضلعې د پیبنور تحصیل د داؤدزو په مهبط کښې مشهور کلے دے چې د پیبنور ښهر نه شمال لوري. (د پیبنور په تیرو څو کلونو کښې مشرق رویه توسیع نظر د وړاندې) له هغې اګاهو شمال مشرق لوري ته تقریباً د ۶ یا ۷ میلو په فاصله واقع دے. او شاهجهان پور ښهر لکه چې تاسو په تیرو نوټونو کښې لوستي دي نواب بهادر خان داؤدزي آباد کړے وهٔ. دلته دا سوال پورته

کیږي چې نواب بهادر خان داؤدزے د شاهجهان د عهد امیر وۀ. او د کانت کوله ذکر د دغۀ نه ډیر اګاهو د شیر شاه د عهد د واقعاتو په سلسله کښې راځي. خو تاسو د باره بستي د خانانو په احوال کښې (چې په تیرو نوټونو کښې درج دي) ولوستل چې شیخ عیسیٰ خان بازید خیل داؤدزي لره (چې د نواب بهادر خان د مور بي بي بیری نیکۀ د پلار پلار وۀ) شیر شاه سوري د بسې کلي سره د نورو څو کلیو په جاګیر کښې ورکړے وۀ. (وګورئ د ص ۱۷۲ نوټ ۲. نو له دې معلومیږي چې داؤدزي او ورسره نور سړبني پښتانۀ هم د مغلوائي نه وړومبے په هر حال د همایون د دوباره بادشاه کیدو نه اګاهو هندوستان کښې آباد شوي وو. تاسو په خپل کتاب کښې (ص ۱۶۰) د سرمست خان سړبني څۀ حال ولوست. د دغه سرمست خان سړبني هم دغه حال په ن ح جلد ۱ ص ۳۹۲ داسې شروع کیږي: ''عدلی حکم کرد که ولایت قنوج راز جاگیر شاه محمد فرملی تغیر داده به سرمست خان [داؤدزی] سربنی مرحمت نمودیم'' الخ ص ۳۹۳ [] د بانکي پور خدا بخش لائبریری د نسخې علامت دے. بیا په جلد ۲ ضمیمه الف مبني په څو نسخو چې حواله ئې ورکړې شوې ده) کښې د مامون ابن داؤد او امني بن داؤد د اولاد ذکر دے. (ص ۸۷۱. ۸۷۹) دا مامون د داؤد بن غوري هم هغه زوے دے چې زمونږ په کتاب کښې (ص ۳۵۲) او ډورن (حصه ۲ ص ۴۳) کښې مامور یاد شوې دے. او په ن ح جلد ۲ ص ۵۷۲ مامو یاد شوے دے. په یاده شوې ضمیمه کښې (ص ۸۷۲) د سرمست خان ذکر داسې راځي. ''واز عبدالرحیم واز ملکی خیل ((ص)) وسیدی خیل ولد مامون ولد داؤد ولد غوری ولد گوند ولد خیرالدین ولد سربنی نواب کامگار کامیاب والا خطاب جناب فلک قباب نواب سرمست خان که در اجرائے احکام سلطان حضرت یگانگی مرتبت شیر شاه سور نو دو دو هزاری بود''۔

هر څو کۀ یقین سره نۀ شو وئیلے چې د کانت کوله پرګنه یا د کانت او ګوله پرګنې داؤدزو آبادې کړے وے خو دغه توټي خبرې چې د نظر د وړاندې وي نو خیال انګیزي کوي چې ګوندې د هندوستان د کانت کولې زمونږ د پښتونخواه د کان کولې سره څۀ تړون وي. ګوندې زمونږ کانکوله د هندوستان کانت کولې پسې نوملې شوې وي.

(۵) دنکوټ: ص۱۵۵ نوټ ۳ سره دا الفاظ هم ولولئ:

پلاؤډن په کلید افغاني کښې د تاریخ مرصع د انتخاب په ترجمه لیکلو شوو نوټونو کښې (ص ۱۹۹) د دینکوټ محل وقوع ۲ میله بره له کالا باغه د سیند په بنې غاړه بیانوي. له سینده مراد اباسیند دے.

(۶) اسلام ګړهـ:

ص۱۵۷: ''په دهلي کښې حرارت او ګرمي د طبعیت پرې غلبه وکړه. بنیاد د اسلام

گړهـ په ميان د اوبو متصل د دهلي ئې برپا کړهٔ" الخ.

ن ح جلد ۱ ص ۳۷۰. ۳۷۱: "وقلعه سليم گڑه را که در کنار آب جون واقع است والحال شيخ فريد بخاري دران مي باشد در برابر قلعه دين پناه که جنت آشياني تيار فرموده بودند بنا کرد و گرد شهر دهلي حکم فرمود تا قلعه ديگر راست کنند و در نيولا حرارت بر طبيعت اسلام شاه غالب شد۔ هفتادزلو در گلو چسپانيد تا خون بگيرد"۔

حاشيه ۱ ص ۳۷۱ تاريخ شاهي صفحه ۳۵۲ "نزديک شهر دهلي مقابل قلعه دين پناه قلعه اسلام گړهـ الخ". وګورئ د ص ۴۵۸ نوټ ۲. د جلال خان بادشاهي لقب په تاريخونو کښې د اسلام شاه نه علاوه سليم شاه او اسليم شاه هم راغلے دے. نو د قلعې په نامه کښې د اختلاف وجه ګوندې دا وي. د ن ح نه بره اقتباس شوي عبارت کښې د شيخ فريد بخاري نه مراد هم مرتضي خان بخاري دے. د ص ۳۷۰ په دويمه حاشيه کښې ئې د ن ح فاضل محشي د بابر او د همايون د امير يعقوب بيګ بن ابراهيم بيګ چاپک زوے بيانوي او وائي چې د مرتضي خطاب ورله جهانګير باچا د خپل جلوس په وړومبي کال ور کړے وهٔ. او په ۱۰۲۵ هـ کښې حق ورسيد. مونږ په تيرو نوټونو کښې د مرتضي خان شيخ بخاري ذکر کړے دے هم هغه امير دے چې دريا خان د شيخ رکن الدين د مړينې نه پس هندوستان ته ورغے نو فوځ کښې نوکر شو. (ص ۲۷۱ نوټ ۲.

(۷) ص ۱۹۸ . دارغسان والهٔ: د ارغسان يا ارغستان والهٔ يا رود (سيند) د قندهار مهبط کښې د شوراوک او سورريګ قطب ته دے. د قندهار بنهر ترې قطب لويديز لوري د ارغنداب د رود په خوا کښې واقع دے. ارغستان دوري رود او ترنک وغيره سيندونو سره يو ځائے کيدو نه پس له خاتيزه لويديز لوري بهيدونکے د قندهار سهيل ته تيريږي. او ترې سهيل لويديز رويه ارغنداب سره او بيا نور لويديز ته د کلابست په خوا کښې ترې مغرب ته هيلمند سيند کښې ورګډ شي.

(۸) ص ۱۹۸ ذکر په ميان الخ: (عنوان) مط ن ب، ګلشن روه او کليد افغاني.

ن ا کښې عنوان داسې دے: "ذکر په ميان د راتلل د غوري او خښي له قندهاره و کابل ته". د ن ا دغه الفاظ "ذکر په ميان د" مونږ هم دغسې وساتل. د ن ب وغيره (چې مونږ ئې تتبع وکړه) غوره دے ځکه چې له قندهاره تر کابله د خښي ليږدهٔ بيان شوهٔ. دې عنوان سره د خښي له کابله د وتو احوال او وجوهات بيانيږي. ورپسې بل عنوان د غوري د ليږدې په حقله دے. "راتلل د غوريه خيل له قندهاره".

(۹) ص ۱۹۸ . ۱۹۹ ذکر په ميان د راتلل: الخ [په (۸) کښې ياد شوي عنوان] او ورپسې : چې يو کال خښي فراغت په کابل کښې تير کړهٔ..............او له شاهزاده

مـرزا قلي بيگ نه بهٔ ئې ويره نهٔ کړه." قطع نظر د يو نيم لفظ د اختلاف ن ب کښې هم عبارت هم دغسې او هم دغه قدرې دے. (ص۵۴۷، ۵۴۸).

پـه دې بـاب د اخـون درويزه بيان هم دغه شان او هم دغه هومره دے. وائي "القصه چون سالے به فراغت در کابل ماندند از اغنياء روزگار واقويا ء آن ديار آمدند چه مواشي ايشان به فراغت در علف زار هائے بے حساب مي چريدند واولاد ايشان درهمين فراغت روز بروز درتزايد بود زيرا که درزمان بے جائي ودرآوان غم واندوه زنان کم بارميگيرند تا جماعه ايشان بسيار پر قوت وباصلابت آمدند خصوصا مردم يوسفزئ ومندر بسيار بسيار آمدند از ديگر مردم همچنين اين هنگام طريقه عناد وفساد پيش گرفتند مردم رعايا مسلمانان کابل را آزردن ورنجانيدن گرفتند بل اموال ايشان را به ناحق مي ستانيدند بل کارهائے نامناسب اکثر من ان تحصٰی بجامي آوردند وافغانان ديگر را درته نظر نياوردند لو از شهزاده ميرزا قلي بيگ احتراز نکردند". تذکرة الابرار والاشرار ص ۹۱).

پـه عکس د دې په گلشن روه کښې ص ۶ و ۷ او کليد افغاني کښې ص ۲۱۱ تر ۲۱۳ شامل د تاريخ مرصع د انتخاب عبارت د دغه خائے متعلق ښې زيات مواد لري:

"نـقـل دے چې څـو کاله ښې په فراغت په کابل تير کړهٔ. دولت مند شول. مال ئې ډيـر شـهٔ. اولاد ئې ډير شهٔ. دا دستور دے چې په ښهٔ ملک دولت حاصليږي. وائي چې په هغه آوان کـابل د ميرزا الغ بيگ په تصرف کښې وهٔ. چې د ميرزا امير تيمور له اولاده وهٔ. په سن اتـهٔ سـو يوولس شاه رخ سلطان چې د امير تيمور زوے وهٔ په هرات کښې د خراسان بادشاهي کـولـه. ميـرزا خـليـل نـمسـے د اميـر تيـمور په ځائے د ميرانشاه چې زوے د امير تيمور وهٔ په سـمـرقند کښې د ماوراء النهر بادشاهي کوله. د خپلو امرايانو د لاسه په سمرقند کښې په قيد شـهٔ. هـر گاه چې شاه رخ سلطان په هرات کښې دا واؤريدهٔ. لښکر ئې وکړ په سمرقند داخل شـهٔ. ميرزا خليل چې د امرايانو د لاسه په قلعه شاه رخيه کښې په قيد وهٔ. له سختئ ئې دا غزل شاه رخ سلطان ته وکويښ چې سر ئې دا دے:

يا واهب العطية يا مقتضي المراد ماطاقت فراق نداريم زين زياد

شـاه رخ سـلـطـان چـې د دهٔ تـره وهٔ لـه حبـس ئـې خلاص کړ ورسره ئې هرات ته بوت. ډيره مهـربـانـي ئـې پـرې وکـړه. او سـلـطـنـت او حکومت ئې د تخت سمرقند په خلف الصدق د اميـرزاده الـغ بيگ وسپـارهٔ. روان شهٔ چې په جيحون پورې ووت خداداد جسته بردي بيگ چې ميرزا خـليـل ئـې پـه قيـد کـړے وهٔ لـه سـمـرقند فراري شول. شاه رخ سلطان ميرزا چې سمرقند د دهٔ په تصرف کښې کړے وهٔ اخون درويزه نوم د هغهٔ شاهزاده علي قلي کښلے دے. شـايـد زوے د الـغ بيگ دے. دا مـقـدمـه پـخوا د بابر شاه د راتللو له ولايت فرغانه نهٔ وه. بابر بـادشاه کابل له ("د" پکار دے) ذوالنون ارغون له زويه چې مقيم ارغون نوميدهٔ واخست او په خپـل تصرف ئې راوړ پښتانهٔ دا ملک د پښاور واړه نيولے وهٔ. ځائے په ځائے پرې ميشت وهٔ.

هر کله چې درست خبنے و کابل ته راغے یو مدت ئې په کابل تیر شۀ. مال مویشي دولت فراغت ئې روزي شۀ. او په دولت فراغت سره اولاد ډیرېږي. خصوصاً یوسفزے او مندڼ ډیر شۀ. فساد ئې آغاز کړ. د کابل عالم به ئې ډیر آزاره وۀ. مالونه اسبابونه به ئې رانیول. نامناسب کارونه به ئې کول، نور پښتانۀ به ئې په نظر کښې نۀ راوړل او له شاهزاده میرزا علي قلي بیګ به ئې ویره نۀ کړه".

کلید افغاني په ۱۸۹۳ ء کښې چاپ شوے وۀ. او لکه چې تاسو ولوستل (ص ۴۶۶ نوټ ۳ د ن ب کتابت د پادري هیوز (د کلید افغاني د جامع) دپاره په ۲۸ اپریل ۱۸۸۵ ء پائے ته رسیدلے وۀ. خو له هغۀ څۀ چې تاسو اوس ولوستل بریښي چې په کلید الافغاني کښې شامل د تاریخ مرصع د انتخاب دپاره موصوف پادري صاحب په خپله د ن ب په ګلشن روه کښې شامل انتخاب پکارولے وۀ. ګلشن روه په ۱۸۶۷ ء کښې د کلید افغاني د طباعت او اشاعت نه اتلس کاله اګاهو طبع او شائع شوے وۀ.

(۱۰) ص ۲۰۰ حصارک:

پلاژډن لیکي چې حصارک د سلسله کوه کرکچه چې د ننګرهار مغربي حد کښې دے مشرق ته دے. د کلید افغاني انګریزي ترجمه ص ۱۷۶ حصارک د ننګرهار په مهبط کښې د سرخ رود په غاړه ګندمُک ته نزدې ترې مغرب څۀ خو جنوب ته او له جګدلي جنوب ته واقع دے.

(۱۱) ص ۲۲۰ باسول:

باسول د رود کابل ښي غاړې ته له چکنوره (د رود کابل کیڼې غاړې ته) جنوب مغرب ته او د لالپورې مغرب او ډکې مغرب شخو شمال ته دے. دغه ټول خایونه د مومندو په علاقه کښې دي.

(۱۲) سفید سنګ:

پلاژډن وائي چې سفید یا سپین سنګ د تاترې د غرۀ مشرق ته برطانوي علاقه کښې دے. (ص ۱۷۷). سپیر سنګ او سفید سنګ له پیښور بنهره قطب لویدیز لورې او له تهترې سهیل ختیز ته د باړو زو خلیلو په تپه (تحصیل او ضلع پیښور) کښې یو تر بله بالکل نزدې پراتۀ دي. سفید سنګ له سپیرسنګ شمال مغرب ته دے.

(۱۳) ص ۲۰۰:

"جلو نام شلمانے چې سردار د شلمانیو وۀ...... نقل دے له اخون درویزۀ چې له دلوچغرزي نه ئې کړے دے چې د جلو شلماني په مرګ زۀ حاضر وم". الخ

گلشن روه د تاریخ مرصع انتخاب ص ۹او ۱۰ او کلید افغاني، د تاریخ مرصع انتخاب ص۲۱۷ "خلو" بیا گلشن روه ص ۱۰ او کلید افغاني ص۲۱۷ "له یوهٔ چغرزي". ن ب(ص ۵۵۲/۵۵۳) مـط ن ا "جلو" او "له ولو چغرزي" په ځاے د ن ا د "له دلو چغرزي". نو دلته بیا د پادري هیوز هم د گلشن روه پیروي جوته ده.

دغه ځائے به دا خبردارے مناسب او ضروري وي چې شلماني چې په دغه مضمون کښې یاد شوي دي د شلمان وسیدونکي وو. پلاؤډن لیکي چې دوي د شلمان نومي ځائے نه چې د کوهاټ په مغرب کښې د کرمې د سیند په غاړه دے راغلي وو. (۱۷۷) د خیبر د درې په شمال کښې شلمان نومي کوهستاني علاقه اوس له ډېرې مودې راهسې د مومندو په قبضه کښې ده. او له دې قبله دغه مومندو ته هم عام طور سره شلماني وئیل شي. غالباً چې هغه شلماني خلق چې په دغه مضمون کښې یاد شوي دي د کرمې له خوا د لیږدې نه پس په شمال شمال مشرق لوري مزل کښې د خیبر په خوا کښې اوس شلمان نومي کوهستان او د وادئ پښاور په څهٔ حصه هم قابضان شول. او دغه کوهستان هم د دغو زړو استوگنانو له نسبته شلمان وبللے شو.

(۱۴) ص ۲۰۰ الله ډهنډ:

"د سوات د سیند په کینه غاړه یا سهیل غاړه د وادئ سوات په رانیزي نومي تپه کښې د مشرئ ځائے". (پلاؤډن ص۱۷۸).

(۱۵) ص ۲۰۲ کاټ کلئ:

یا کاټ کلے؟

(۱۶) ص ۲۰۲ عیسائي.

وکورئ خپل ۳و۳(ا) ص ۲۰۲. د پلاؤډن د حاشیې نه معلومیږي چې هغه دې لفظ څخو په مخصصه کښې اچولے وهٔ. وائي چې په متن کښې لفظ عیسائيٰ چې عموماً ئې معنیٰ کرسچین (نصاريٰ. د عیسائي مذهب پیروان) کیږي خو غالباً چې دلته ئې معنیٰ د اسلام نه غیر د بل دین پیروان دي. څکه چې مونږ سره بل سند په یوسفزیو کښې د نصاريٰ د موجودگی نشته. خو دا نوټ بیا هم قدرې په تامل کښې کښم. څکه چې ویمبري په خپل "تاریخ بخارا" کښې تر دیارلسمې صدی عیسوي په وسط ایشیا کښې د نصاريٰ ژ په باب لیکل کوي. (ص۱۸۳)

(۱۷) ص ۲۱۵ څور پاني:

د تحصیل نوښهر ضلع پېښور په خټکنامه کښې اباسین ته نزدې په بنی غاړه لې او د

حصار تنگ په خوا کښې ترې مشرق رویه له مندورو شمال مغرب او له مندو خیلو جنوب
څخو مشرق ته د دواړو تر مینځه. د خیر آباد جنوب او د اټک جنوب مغرب ته په لږه
اصله.

۱۸) ص ۲۱۸: "او اولس د خټک چې په سرحد د یوسفزیو تر عیسې خیل
ورې....... کربوغه او ګرګره دا وطن د دوی دے

هر کله چې د نورو خایونو تشریح په تیرو نوټونو کښې (ص ۲۱۴ نوټ ۲ ص ۲۲۵
وټ ۱ ونوټ ۳ و ص ۲۲۶ نوټ ۴ و ۴ الف) کښې شوې ده نو دلته صرف د ګورګورې په
ښاندهی اکتفا کوو ګورګوره د ټیري مغرب او د کربوغې جنوب ته واقع ده. ګورګوره هم
کله د کربوغې د خټکو علاقه ده. خو لکه د وروستي خانے (ص ۲۲۵ نوټ ۱ د انتظامي
غراضو دپاره د بنګښو په تحصیل (هنګو ضلع کوهاټ) کښې شامله ده. د هنګو قصبه له
واړو شمال مشرق ته ده. د هنګو د تحصیل مشهوره ټل قصبه د کربوغې نه تقریباً نیغه
غرب ته او له ګورګورې شمال مغرب ته ده. یوه بله ګورګوره د خورم محمد زئ او ورپورې
زدې د توتکي (باید چې ظاهر وي چې دا هغه توتکے نه دے چې په ص ۲۶۲ نوټ ۳ کښې نې
اسو تشریح ولوسته هغه لکه چې وونیل شول د خټکو او آدم خیلو اپریدو ته نزدې پروت
ے د پیښور ضلعې په نوښهر تحصیل کښې دے او دا توتکے چې مو اوس یاد کړو د
وهاټ ضلعې د خټکنامې دے) نه تقریباً نیغه مشرق ته او د ټیري نه جنوب مشرق له ټولو
ایونو نه لرې او شکر درې ته مقابلتاً نزدې ترې مغرب ته پرته ده. او دریمه ګورګوره مقابلتاً
رې په ډیر مزل د شکردرې جنوب مشرق ته ده. دغه دوه نورې ګورګورې هم د کوهاټ په
تکنامه کښې دي. خو هر کله چې د نظر د وړاندې ګورګوره د کربوغې سره یو خانے یاده
وې ده نو باید چې هم وړومبی ګورګوره وګڼلې شي. او بیا چې مونږ له مغربه تر مشرقه تر
ښې خیلو او آب سینده درومو نو د شکردرې علاقه مو په سفر کښې راخي. مخکښې د
کردرې ذکر خان له هم د خټکو د علاقو د بیان په ضمن کښې راخي.
۱۹) ص ۲۲۴ شوال: تقریباً ټولې نسخې "شهال" د تشریح دپاره وګورئ ص ۲۲۴ نوټ

۲۰) ص ۲۲۴ سدراوڼ: تقریباً ټولې نسخې "صدرون" پلاؤډن لیکي چې دغه والۀ
س هم شته او د ایډورډ آباد (بنو چاؤنی) خاتیز ته د کورمې د دؤو خانګو تر مینځه د
درون زمکه اوبۀ کوي. (ص ۱۹۲).
۲۱) ص ۲۲۴ شیشم: پلاؤډن وائي چې شیشم لکه هغۀ ته چې یو مقامي سړې وئیلي

وي د بانډه داؤد شاه او تيري تر مينځه د شيشم يا شوې يوه ونه وه چې ورته نژدې د مسافرو
منزل گاه وۀ. او دغه ځائے به هم شوه بالۀ شو بيا ليکي چې د بانډه داؤد شاه او د بهادر خيلو
د قلعې تر مينځه د دغه نوم يو ځائے تر اوسه شته (ص ۱۹۲ ۱۹۳) زما د وړاندې د سروې آو
پاکستان نقشو (....۲۵۰ : ۱ شيټ ۳۸ ، او فرسټ ايډيشن او ايضاً "کے") کښې شيشم د
بانډه داؤد شاه او تيري دواړو نه مغرب ته د تيري توئي پورې جخت قطب لورې ښنيلې
شوے دے. بانډه داؤد شاه د تيري نه مشرق ځۀ لږ کي جنوب ته د پيښور بنو سړک په غاړ
واقع ده. او بهادر خيل له دواړو جنوب مغرب ته دي. او د شيشم نه تقريباً نيغ جنوب ته
شويکے خو لکه چې تاسو په تيرو نوټونو کښې (ص ۳۵۳ (۲و ۲(ا) و ۲(ب) لوستے دي د
تخت، چخترو او خوړوبي په خوا کښې پروت دے. بايد چې شويکے او شيشم (يا شوه لکه
چې پلاؤډن ئې متبادله پښتو نامه ورکوي) سره مخلوط نۀ شي. د کوهاټ په خټکنامه کښې
يو بل ځائے شوه هندوکش هم شته چې له بانډه گورگورې (د شکر درې مغرب ته) جنوب
لورې متهن الگډ او تيرکمر الگډ تر مينځه واقع دے. خو هر کله چې د شيشم ذکر کړبوغ
او تيري سره شوے دے نو بايد چې وړومبے شيشم ترې مراد وي.

(۲۲) ص ۲۲۴ شيخ تنگي:

پلاؤډن وائي چې اوس دغه ځائے په شيخ علي دره (يا تنگے) مشهور دے او د کوهاټ
په ضلع کښې د گنبت او خوشحال گړهـ تر مين واقع دے. (ص ۱۹۳)

(۲۲الف) ص ۲۴۱ بازار: وگورئ نوټ ۳. په صوابی تحصيل کښې يو ځائے بازار کے
هم شته چې له صوابی لويديز او له مردان سهيل خاتيز ته د دواړو تر مينځه واقع دے خو هر
کله چې په متن کښې بازار دے نو هم دغه ځائے به ترې مراد گڼل مناسب وي.

(۲۳) ص ۲۴۲ مناره: تحصيل صوابی ضلع مردان. له مشهور او لوئے کلي زيدې تقريباً
۳ ميله سهيل خاتيز ته.

(۲۴) ص ۲۴۲ تهنډه کوهے : (چې عوامي تلفظ کښې تنکوی بللے شي) تحصيل
صوابی ضلع مردان. له زيدې تقريباً ۲ ميله خاتيز ته.

(۲۵) ص ۲۴۶ نوټ ۲ بابارتا:

غالباً چې برتا دے چې د امازو گړهي (يا گړهي کپوره) تحصيل او ضلع مردان
ملکيت او د گنبت ضلع او تحصيل مردان خواؤشا دے.

(۲۶) ص ۲۵۰ مراد قلي ککهړ:

ن ۱ " مرزاقلي ککړ. ن ب (ص ۱۷۷) "مراد قلي کاکر". د اورنگ زيب عالمگير د

عهد د وروميو لسو کالو سرکاري تاريخ "عالمگير نامه" (ص ۱۰۴۲) "مراد قلي سلطان ککهړ" د ګکهړ قام خلق د پنجاب په جهلم ضلع کښې او هم د هري پور تحصيل ضلع هزاره صوبه سرحد په مشهور کلي خانپور کښې آباد دي د خانپور لوئے رئيس هم راجه او هم سلطان بلل شي. د ګکهړو دعوئ ده چې دوي ايراني النسل او کيانيان دي.

(۲۷) ص ۲۶۶ تخت: د دغه خائے ذکر د ص ۲۶۶ نه وروستو صفحو (مثلاً ۲۶۷ ۲۷۱، ۲۷۶، ۲۹۰) کښې هم شته. او نبناندهي ئې په ص ۲۶۶ نوټ ۳ کښې شوې ده. اګر کۀ تخت نومې يو خائے د بهنګي خيلو خټکو په علاقه (پنجاب ضلع ميانوالي تحصيل عيسي خيل) کښې هم شته چې د شکردرې (صوبه سرحد تحصيل او ضلع کوهاټ) نه جنوب او د بلندي (تحصيل کرک ضلع کوهاټ) نه شمال مشرق ته واقع دے. اګر کۀ په يادو شوو مخونو چې د کوم تخت ذکر دے هم هغه دے لکه چې مونږ په ياد شوي نوټ کښې ښنيلے دے خو وګورئ ص ۳۴۹

(۲۸) ص ۲۸۰ آخور د کوهاټ يا د آدم خيلو اپريدو د درې شمالي برخه چې په څو کليو مشتمله ده (په ص ۲۹۸، ص ۲۹۹، ص ۳۰۰ ئې هم ذکر راغلے دے).

(۲۹) ص ۳۰۶ شواک: د افغانستان په پکتيا علاقه کښې د ګرديز نه جنوب مشرق ته.

(۳۰) ص ۳۰۶ "د کمال الدين زوے د دلير خان نمسے چې جمال الدين خان نوميدهٔ الخ. ن ا "دليل خان". په ن ح کښې هم د جلال داؤدزي خطاب د دلير خان په خائے دليل خان راغلے دے (وګورئ ص ۱۷۲ نوټ ۲) د دلير خان په زامنو کښې د کمال الدين خان دپاره وګورئ ص ۱۹۵ نوټ ۱

(۳۱) ص ۳۱۰: د سرائ اکوړه نه په لږه فاصله جنوب لوري هوډے غر شرقاً غرباً تللے دے. دغه کرپه چې ياده شوې ده. د سرائ اکوړه نه جنوب مشرق لوري د خير آباد او اټک تر مينځه د هوډي په غرهٔ کښې ده. اشرف خان هجري چې د خوشحال بابا په مرثيه (ص ۴۲۰ تر ۴۲۲) کښې وائي چې:

نظام پور په ژړا ماتې کړې مانې　　　　لــه هـوډيـانو ئې پـرې کـړې تـمـنـا ده

(ص ۴۲۲) نو کوندې د هوډې غر له نسبته ئې خټک په طور د هوډيانو ياد کړي دي. په يوهٔ بل نظم کښې هجري هوډے داسې يادوي:

لوئے فلک په خندا شين شو له هوسه　　　　چې هوډے جبل په مخ زۀ ورته شا شوم

خوشحال بابا ئې داسې ذکر کوي:

رحمت په اکوړي شه چې ئې ونیوهٔ خائے سرائے
چې ښهٔ فهم مې وکړ باور وکړه خائے دے خائے
تور غر ئې د هوډې دے تر تیـــراهه پورې تللے
نیـــلاب و لنډې دواړو عجب سرایښے په پائے

(۳۲) ص ۳۲۵: د شاه آباد ګرهي. وګورئ ص ۳۶۵ نوټ ۱)، ص ۸۶ نوټ ۴ او ص ۱۹۳ نوټ ۵ پـه دغه نوټونو کښې چې د شاه آباد نوم د کومو مختلفو خایونو نشاندهي شوې ده هغه چې لکـه له نوټونو جوته ده ټول هندوستان کښې دي په ص ۳۲۵ چې د کوم شاه آ. ذکر دے هغـه لکـه چې باید له سیاقه سباقه جوته وي پښتونخوا کښې د کوم خائے نوم دے نو مغو نورو خایونو سره ئې د ګډولو څهٔ وجه نشي کیدلے

(۳۳) ص ۳۶۰ چشمي یوه چشمی خو د پیښور ضلعې د نوښهر تحصیل په ختکامه کښې ده. د محل وقوع دپاره ئې وګورئ ص ۳۳۱ نوټ ۱ خو په ص ۳۶۰ چې کومه چشمی یاده شوې ده د نوښهر د ختکنامې چشمی نهٔ شي لیدے خکه چې د سوډهل (ص۳۵۷. ۳۱۰) لاچی او مـالـګیـن خـواؤشـا ښـکـاري او بیا ورسره د شِویکي او مکهډو ذکر هم راغلے دے مؤلف لـکـه چـې هـغـه پخپله وائي په شِویکي کښې وي او له هغه خایه سوډهلو ته راډرومي او اسـد الله خـان لـه چشمی غواړي. د کوهاټ په ختکنامه کښې یوه چشمی بانډه خو د مکهډو (د ابـاسیـن په کینې غاړې) نه شمال څخو مغرب ته د اباسین په سمې غاړې له سینده په لږه او لـه مکهډو په کافي مزل پرته ده. مالګین درنګ ترې مغرب ته او مالګین ترې شمال مغرب ته دے. شـویـکے د مالګین نه مغرب ته دے بله چشمی یعنې چشمی میانګان غورزندیو ته نزدې تـرې شـمال مشرق ته واقع ده او لاچی ترې جنوب مشرق ته ده. او د لاچی جنوب مشرق ته سـوډهل واقع دے. د سوډهل نه جنوب مغرب او لاچی نه جنوب مشرق ته شویکے واقع دے. د مـالـګیـن او مـالـګیـن درنګ دواړو نـه سوډهل شمال مغرب ته دے او له ګلشاخیو جنوب مشرق ته. یو بل مالګین ډېو (سروې آو پاکستان شیټ ۳۸ کے) د بهادر خیلو جنوب مشرق او د سـوډهـلـو جنوب مغرب ته هم شته لیکن هغه د سوډهلو او لاچی نه ډیر لرې دے. یوه بله چشـمـی د لتـمـر نـه په لږه فاصله ترې جنوب مغرب ته هم شته. (کمه چشمی کلے) خو دا د لاچی، مالګین او سوډهلو نه ډیره لرې ده. او د کلي نخښه د وزیرو په حد کښې لیدهٔ شي.

(۳۴) ص ۳۶۹ ـ ۳۷۰: "نور ئـې شـاه کـلـیـم کـتـې خیل سرور ډاک راروان کړ حقیقـت حـال چې دې لیدلے وي په عرض ئې (۳۷۰) ورسوه". دا وخت زما په مخکښې په نسخه (ن ا) کښې "سـوړډاک" الخ. لګه چې عبارت سټاسو په مخکښې دے. مطلب ئې دا

دے چې بیا ئې شاه کلیم کټي خیل ته ډاک ورکړ. او په آس ئې راروان کړ. الخ او کهٔ د "سوور ډاک" په ځائ "سُور (واؤ معروف) ډاک" ولولو نو بیا به ترې اول "له" لګول پکار وي. یعنې شاه کلیم کټي خیل ئې له سور ډاګه راروان کړ الخ. سور ډاک لتمر ته نزدې ترې مشرق ته د کوهاټ د خټکنامې یو کلے دے.

(۳۵) ص ۳۷۵. د شیخ مرزا زیارت: (هم په صفحه ۲۹۸) غالباً چې د مرزا ګل بابا زیارت ترې مراد دے. مرزا ګل بابا د حضرت شیخ رحمکارؒ له مقربو مریدانو څخه وهٔ. د هغوي مزار خلوزیو ته نزدې ترې سهیل ته دے.

(۳۶) ص ۳۸۴ اسماعیل خیل: یو خو مشهور ډاک اسماعیل خیل دے چې د پبو چراټ په سرک د چراټ چاؤنی شمال مغرب او د پبو ډاک بیسود او خلوزیو جنوب ته واقع دے او ذکر ئې وړومبے راغلے دے. (مثلاً ص ۲۷۲ اسماعیل خیل) په ص ۳۸۴ اسماعیل خیل نه مراد د خټکو یو بل کلے اسماعیل خیل دے چې د نوښهر چاؤنی نه په لږه فاصله د کټي خیل ډیری شمال مشرق او له وترو مغرب ته د دواړو تر مینځه واقع دے. درې واړه کلي سره نزدې دي. دواړه اسماعیل خیل د پېښور ضلعې نوښهر تحصیل کښې دي.

(۳۷) ص ۳۹۸ پندو دوه کلي پندو پایان او ترې جنوب څخو مغرب ته پندو بالا د پېښور ضلعې د پېښور تحصیل په خالصه تپه کښې دي. د پېښور ښهر نه جنوب مشرق ته او د مهمندو د هزار خانی نه مشرق ته دي.

(۳۸) ص ۳۹۹ ارمړ: (وړومبے ص ۳۷۵) درې کلي وګورئ ص ۱۳۳۹ نوټ ۲

(۳۹) ص ۳۹۹ سرخاب: د بګرامي جنوب د کابل جنوب څخو مشرق د محمد اغه جنوب مشرق او ګلنګار شمال مشرق ته.

(۴۰) ص ۴۰۴ د جبار قبر: ګوندې خاک جبار ترې مراد وي چې د جګدلي په جنوب مغرب کښې او د کابل په خوا کښې (شرقاً) په لږه فاصله بګرامي، بتخاک نه په ترتیب جنوب مشرق او جنوب ته دے.

(۴۱ ص ۴۰۷ سید پهولا: یا سید بهولا؟ کهٔ پهولا وي نو باید چې معروفې او کهٔ بهولا وي نو مجهول واؤ سره ولوست شي. د پهُولا بل شکل پهُلاّ هم دے.

(۴۲) ص ۴۱۰ یوټ: وړومبے په ص ۲۸۹ نوټ ۳ کښې لیکلي شوي دي چې د خټکو د علاقې د دې ځائے د آبادی اوس چیرې نخښه نشته. او د کوهاټ د ساغریو خټکو په علاقه کښې یوه خطه اوس هم غالباً اوټ میله بلل شي خو آبادي نهٔ لرې. دلته یعنې په ص ۴۱۰ چې کوم یوټ یاد شوے دے هم هغه یوټ دے چې وړومبے ئې تاسو ذکر ارسے دے. نو دلته د

سیاق و سباق نه مونږ اندازه کولے شو چې د یوټ او د ساغریو د علاقې د اوټ میلې (کۀ د دغه نوم خطه پکښې وي) سره ترون نشته. ولې چې د ص ۴۱۰ له مضمونه هسې بریښي چې یوټ د شیشم کربوغې او لاچی خواؤشا چیرې واقع وۀ.

(۴۳) ص ۴۱۳ **گلیشا خیل**: یا گلشاه خیل؟ وگورئ (۳۳) ص ۳۶۰ چشمی.

(۴۴) ص ۴۱۹ **حصار تنگ**: خور پانی تـه نـزدې ترې لویدیز ته. وگورئ نوټ ۱۷ ص ۲۱۵ خورپانی.

(۴۵) ص ۴۲۲ نوټ ۲: پـه نـوټ کښې د سندھ د علاقې د اوچھ ذکر راغلے دے. لکه چې پـه امپیـریـل گزیټئیر کښې لیکلي دي اوچ د بهاولپور د علاقې یو زوړ او قدیمي تاریخي ښهر دے. اوچ راوروتې د ملتان د علاقې بهتیه گڼلے دے. چې یو وخت د بالائي سندھ هم خالے وۀ. (جلد ۲۴ ص ۸۲) د بهاولپور علاقه یو خوا سندھ او بل خوا ملتان سره لگیدلې ده.

هم د تیر عنوان په لړ کښې

(۱) ص ۱۸۷ نوټ ۱

(الف) پـه یوه یاد شوي نوټ (په چاپه صفحه ۱۴۲۱) کښې لیکلي دي چې د نواب بهادر خان کـالـنی تنخواه پینځۀ ویشت لکه روپی دا چې میاشتنی دوه لکه لس زره روپی وه. د "یادگار سـلف" مؤلف ښـاغـلـي عبیـدالله خان صاحب مرحوم عهد په عهد د منصبدارانو په حیثیت او تـنخواگانو کښې د فرق او د نواب صاحب او دیوان د خطابونو د استعمال په حقله په خپل یاد شـوي کتـاب کښـې څـخو په تفصیل وینا کړې ده. د ستائیلي خان صاحب د تحقیق له روبه د اکبر په وخت کښې د ملازمانو دپاره د ټولو نه لوړے منصب پنج هزاري پنج هزار سوار وۀ خو د جهـانـگیر په وخت کښې د ملازمانو دپاره له ټولو نه وچت منصب هفت هزاري هفت هزار سـوار تـه ورسیـد. بیـا شـاهـجهـان بادشاه د منصبدارانو په سورو کښې د "دو اسپه سه اسپه" قـاعده هم جاري کړه چې له قبله ئې د منصبدارانو په تنخوا گانو کښې ډیره لویه اضافه وشوه. ستـائیـلي خان صاحب چې کوم بحث کړے دے او د منصب داری د آئین په باب ئې چې کوم جـدولونه ورسره په خپل کتاب کښې شامل کړي دي له هغو جوتیږي چې د اکبر او جهانگیر پـه وختـونـو کښـې د درجـه اول پنج هزاري (پنج هزاري ذات پنج هزار سوار) د کال تنخواه درې لـکـه شپیتۀ زره روپی وه. او د جهانگیر په وخت کښې د هفت هزاري درجه اول کالنی تـنـخـواه څـلـور نیـم لـکـه روپی جوړیده. د شاهجهان او اورنگزیب په وختونو کښې د اولې

رجي د پنجهزار (پنجهزاري ذات پنجهزار سوار دو اسپه سه اسپه)☆ د كال تنخواه پينځه يشت لكه روپۍ وه. هر كله چې نواب بهادر خان د درجه اول پنجهزاري وۀ نو د بحث 'ندې نوټ كښې د هغۀ دغه تنخواه وليكلے شوه.

☆ [كۀ تهول سوارۀ دو اسپه سه اسپه وو نو بې تخصيصه او وضاحته به هم دغه شان وليكل شول مثلاً ؞ادر خان روهيله پنجهزاري پنجهزار سوار دو اسپه سه اسپه. د ځنو منصبدارانو درجه به د ذات او سورو ، رويه يو شان وه خو تهول سوارۀ به ئې دو اسپه سه اسپه نۀ وو د وضاحت دپاره به د دو اسپه سه اسپه ذكر اص طور سره وشو. مثلاً راجه جسونت سنگهه ولد راجه گج سنگهه پنجهزاري پنجهزار سوار دو هزار و نصد سوار دو اسپه سه اسپه. د ځنو به يو سور هم دو اسپه سه اسپه نۀ وۀ. شاه نواز خان صفوي پنجهزاري ـنجهزار سوار او د ځنو به د ذات او سوار منصب كښې فرق وو. مثلاً اصالت خان پنجهزاري چار هزار وار (بادشاهنامه ۲ د امراؤ او منصب دارانو فهرست) هر يو امير به منصبدار وۀ خو هر يو منصبدار به امير وۀ پنجهزاري، شش هزاري او هفت هزاري د امارت لويې درجې وې.]

د نواب او ديوان د خطابونو د استعمال په حقله د "يادگار سلف" فاضل مؤلف ليكي ـې اگر كۀ په سركاري حكمونو او فرمانونو وغيره ؤ كښې به دا خطابونه نۀ استعماليدل خو ډيرو مسلمانانو منصبدارانو نومونه تر اوسه هم د دغه خطابونو سره مشهور راروان دي. او ـر وكړے ئې هم دغسې اخلې او بيا وائي چې په دې باب زما د مينود موندنه دا ده چې د كوم ـلازم منصب چې به له پانصدي تر دو هزار پانصدي پورې وۀ هغه به ديوان بلل شو. او له سه زاري تر هفت هزاري پورې منصبداران به په طور د نواب مخاطبيدل او مذكوريدل. (يادگار ـلف ص ۳۷، ۳۸ او متعلق جدولونه.)

كۀ هر څو دغه خطابونه د سركاري دستاويزايو او كاغذاتو د استعمال دپاره نۀ وو عام ـلقو به د دغه درجو منصبدارانو او امراؤ دپاره استعمالول. او د دغه افسرانو ماتحتانو ورلره م. لكه چې د شيخ بالا پير مزار څخه د نواب بهادر خان په جوړ كړې دالان كښې په لگيدلې ـتـه د هغۀ سركاري خطاب (بهادر خان سره د نواب معليٰ القاب الفاظ هم ليكلي شوي دي. ـر معظم شاه د تاريخ حافظ رحمت خاني جوړونكي د دغه كتاب د مآخذ (چې د خواجو ـليزي تاليف وۀ) حضرت حافظ رحمت خان روهيله رحمة الله عليه ته د نواب بهادر خان له ـتب خانې د رسيدو په حقله وائي: "از كتب خانه عاليه خاصه شريفه سركار فيض آثار نواب معلى القاب خان بهادر خان م افغان عرف غوريه خيل داؤدزے خط انداز ورونق افزائے بلدۀ شاهجهان پور طاب الله ثراه وجعل الجنة مثواه بهم رسيد"

ـكه چې له عبارته ښكاره ده دا وخت نواب صاحب وفات شوے وۀ. ښكاره ده هغۀ او حضرت حافظ ـاحب رحمة الله عليه تر مينځه تقريباً د ۱۳۰ كلو فرق دے. نواب صاحب په رجب ۱۱۵۰ هجري ـبې وفات شوے وۀ او د حضرت حافظ صاحب رحمة الله عليه د شهادت واقعه په صفر ۱۱۸۸ هجري ـبې وۀ.]

د بلخ بدخشان د مهم په دوران کښې چې د نواب صاحب ترهٔ آدم خان ورسره په خواب کښې خبرې کړې نو ورته وائي "نواب سلامت هسې دي" دغه شان لکه چې ناسو د اورنګزیب په عهد کښې د خیبر د جنګ په ۰ال کښې لوستلي دي خوشحال بابا چې محمد امين خان سره مخاطبه کوي نو نواب ئې بولي. د خوشحال بابا د ګرفتاری نه پس لکه چې هغه په خپل عظیم او مشهور نظم ترکیب بند ذوالقافیتین کښې واني عهده داران چې صوبه دار امیر خان (سید میر خوافي) سره راټول شول نو ورته ئې ووئیل چې آیا د خوشحال ځوندي وفادار او دولت خوا سړي نیول نواب مناسب ګڼي.

هر چې امراګان وو په صوبه کښې منصبدار　　کل عالم حیران شهٔ چې ئې ولیدهٔ د کار
لاړل په سبا د وخته ټول شول په دربار　　وې وئیل دا هسې نیک خواه د شهریار
دا رنګه نیوهٔ شي نواب ښهٔ ګڼي دا چار　　چپه خلهٔ شهٔ پاتو هیڅ ئې ونهٔ کړو ګفتار

ب: بره یاد شوے نوټ او صفحه،چاپي صفحې ۱۱۴۶، ۱۱۴۷

حضرت بدیع الدین شاه مدار صاحب ډیرو محققینو او عام و خاص خلقو له صلحاؤ او اولیاؤ ګڼلي دي او ډیرو بادشاهانو او امیرانو د هغوي د مزار او په دې ګنبد وخت په‌وخت تعمیر کړے دے. او نواب بهادر خان هم له دې قبله د ښهٔ ګمان او عقیدت له قبله د هغوي په مزار ګنبد جوړ کړے وهٔ. خو متاسفانه د شاه صاحب موصوف په معتقدینو کښې ډېر خلق ګمراه او په کفریاتو او خرافاتو سر او په بدعاتو اخته شوي وو دغو بدبختو ته مداریان او فرقه مداریه وائي. ځکه چې دوي به خان شاه صاحب موصوف ته منسوبولو باید چې مونږ هم له نیکه ګمانه کار واخلو او ستائیلے شاه صاحب د تیرو ښو او ثقه خلقو په همنوایی کښې له صلحاؤ او اولیاؤ او د مداریانو بد بختو له بدو عقائدو او سپکو اعمالو بري الذمه وګڼو ځکه چې هیڅوک د کتاب او سنت خلاف او په عکس فکر، وینا او عمل کولو کښې دولایت درجې ته نهٔ شي رسیدے. بلکې د نجات او فوز و فلاح او د دارینو د سعادت د موندلو واحده ذریعه د صاحب قرآن سید المرسلین خاتم النبیین حضرت محمد مصطفیٰ احمد مجتبیٰ ﷺ په غلامی اختیارولو او پیروی کولو کښې ده.

(د بدیع الدین شاه مدار صاحب او د مداریانو د حالاتو دپاره وګورئ "ہندوستان شاہان مغلیہ کے عہد میں" ص ۳۹، ۴۰ په حواله د دبستان مذاهب. قاموس المشاهیر جلد ۲ ص ۹ او نزهة الخواطر و بهجة المسامع والنواظر جلد ۳ ص ۶۷ تر ۷۲)

(ج) د نواب بهادر خان په حالاتو کښې د شاهجهان پور د ښار د آبادی د بیان په لړ کښې مونږ لیکلي دي چې ځنو لیکوالو په غلطی د هغهٔ کشر وررور نواب دلیر خان د شاهجهان پور

بـانـي گـنـلـې دے حـال دا چې نـواب بهـادر خـان ئـې بـاني وۀ. علاوه له نورو اسنادو "تاريخ شـاهـجهـان پور" هم زمونږ د بيان تائيد کوي. (وګورئ د مآثر الامرا اردو ترجمه له پروفيسر محمد ايوب خان صاحب قادري جلد ا ص ۴۲۰ حاشيه په حواله د تاريخ شاهجهان پور تاليف د صبيح الـديـن صاحب) ډاکټر سيد معين الحق صاحب د تذکره علمائے هند په اردو ترجمه خپـلـې مـقـدمـه کښـې ليکي چې "شاهجهان پور د روهيلکنډ له نوې ابادو کړے شوؤ ښارونو څـنـې دے. د شـاهـجهان په عهد کښې مشهور روهيله سردار بهادر خان اباد کړے وۀ. د دغه ښار د حالاتو په باره کښې ډير کتابونه ليکلے شوي دي. مولوي مطيع الله خان يو ضخيم تاريخ پـه څـو جـلـدونـو کـښـې لـيـکـلـے دے. چې پـکـښې په ډير تفصيل ئې د مشاهيرو، عالمانو او صـوفـيـانـو ذکـر کـړے دے خـو افـسوس دے چې دا کتاب چاپ نۀ شو د دغې سلسلې اخري کړی د مياں صبيح الدين "تاريخ شاهجهان پور" دے چې په ۱۹۲۷ ء کښې له اصح المطابع لـکهـنـو شـائع شوے دے. مصنف د دې کتاب په دويم جلد کښې د شاهجهان پور د مشائخو علماؤ فضلاؤ حکماؤ، شعراؤ او خانانو او امراؤ حال ډير په تحقيق او تفصيل ليکلے دے. (ص ۵۰).

(د) نواب غلام حسين د نواب بهادر خان د وفات تاريخ داسې وئيلے دے:

فخر هندوستان بهادر خان — که جهان قائل شجاعت اوست

مرد داغ فراق راه گزاشت — داغ جان در سنین رحلت اوست

(اردو ترجمه د ماثر الامرا جلد ا ص ۴۱۹، ۴۲۰ په حواله د تاريخ شاهجهان پور)

(۲) مصري خان خټک ص ۱۹۲ "مـصـري خـان خټک له خويه سره چې عنايت خـان نـوميـدۀ د دارا شاه سره قديم نوکران وو." الخ. [د اجمير (ديو رائے) د جنګ حال] بيا ..... بـل مـصـري خان چې مور ئې خلوزی وه. او بيا ص ۲۲۲ "او د مصري خان دوه زامن وو يـو عنايت خان بل غزني خان. خود ئې نوکري د دارا شکوه کړه." نو معلومه شوه چې مصري خان خټک چې د اجمير په جنګ کښې د دارا شکوه له لوريه جنګيدۀ د ملک اکوړي اتم يا د تـولـو نـه کـشـر زوے مـصـري خـان وۀ. د افـضـل خـان بيان د مصري خان او عنايت خان د منصبونو په حقله (چې په ترتيب سه هزاري او دو هزاري وو) محل نظر دے.

(۳) (الف) سلطان پوره (ب) د جنګ وړی

(ج) تيزندی کنده صفحه ۲۰۱

پلاوډن د سلطان پورې په حقله ليکي: "ما دا خائے صحيح نۀ کړو دا به ضرور چرته د بـاړې رود پـه غـاړه د پيښـور جـنـوب مـغـرب ته وۀ." او بيا د قاضي سعيد احمد په حواله د

جنګ د وړی او تيزندی کندې په حواله وائي: "دا خو د باړې رود دے چې پخپله لاره د کابل رود سره د ګډون نه لږ اګاهو پيبنور ته نزدې سهيل رويه له هزار خاني تيريږي. ورته جهندي هم وائي. دا نامه د متن له تيزندی ورانه شوې ده." (ص ۱۷۲) پلاؤډن د جنګ وړی ترجمه "دي هلک آو دي فائټ" د جنګ غونډی يا ډيری کړې ده. د وړی نه مراد هم ډيری ده لکه چې د خليلو مشهور کلي سپينه وړی ته سفيد ډيري (تحصيل و ضلع پيبنور) هم وائي.

د سلطان پورې نومے کلے يا ځائے خو نن سبا چرته د مهمندو په تپه کښې چې په حدودو کښې ئې غالباً دغه جنګ شوے وۀ اُکه نۀ دے جوت او نۀ خو د جنګ وړی نومے ځائے پکښې چرته شته. تر څو چې د تيزندی کندې يا خوړ تعلق دے. نو څرګند دے دغه خوړ له سهيله راتلونکے (د زاخيلو تحصيل او ضلع پيبنور خوړ مخامخ لويديز ته) د بډه بيرې مشرق ته ورنزدې بيا نور قطب ته د سوړيزيو درې وارو کليو (کوز، مينځ، او بر) او د مسيزو (موسيٰ زيو) او د هزار خوانی له کليو (دغو ټولو ته نزدې) خاتيز ته د قطب خاتيز رخ اخستے د کچوړی له ميرې تيريدونکے د ترناب کلي رتحصيل او ضلع پيبنور) ته نزدې ترې جنوب رويه باړې ته ورګډ شي. باړه د هزار خوانی او موسي زيو تر مينځه دوارو ته ډيره نزدې تيريږي. بره ياد شوي ټول کلي ما سوا له ترنابه د باړې د مومندو دي. او لکه د ترناب هم د پيبنور ضلعې پيبنور تحصيل کښې دي. د دغه کليو خواؤشا قطع نظر د خاورو له ډيريو يا موړو د ګټو غونډی نشته.

(۴) شيخ تپور ص ۲۰۲:

د شيخ تپور محل وقوع هم هغه دے چې کوم مونږ وړومبے تا کلے دے. پلاؤډن ص ۱۸۲ د بيليو په حواله دغه ځائے د زوړ نوښار (خټ کلي) د کوټ د کنډرو منظر ښيي چې پرې په ۱۸۶۴ء کښې ډاک بنګله جوړه شوه. په هر حال د پلاؤډن تا کلے ځائے د شيخ تپور هديرې ته ډير نزدې دے. او لکه چې په تاريخ حافظ رحمت خاني کښې د جنګ منظر ښنيلے شوے دے دغه ځائے هم له امکانه بهر نۀ دے. خو پلاؤډن د جنګاه د نوم هجه شيخ پتور (پ ت و ر) کړې ده چې صحيح نۀ ده. ت پ ر (تيزۀ يا معروفه) ر صحيح هجه ده. پير معظم شاه چې په تاريخ حافظ رحمت خاني کښې څۀ رنګ د شيخ تپور د جنګ د بيان ابتدا کړې ده هغه هم ډيره ناقصه او غلط فهمی پيدا کونکې ده. هغه ليکي چې: "ازان جمله جنگ ہائے نامی کہ خان کجو کرده است یکے جنگ شیخ تپور است و شیخ تپور نام مقامے است در قصبه شہر پشاور کہ آن مقام درآنجا مشہور است" ص ۱۶۱ کۀ صرف "در پشاور" ئې ليکلے وے نو هم لا څۀ خبره وه خکه چې کۀ شيخ تپور هر څو د ختکو کوهستان ته (چې ترې جنوب لورې دے) ډير نزدې دے په هر حال هم په وادئ پيبنور

کبنې دې. خو موصوف پیر صاحب "در قصبه شهر پشاور" کښلي دي خو بیا هم په مخ بیان جوتوي چې شیخ تپور د لنډي په غاړه (بنې لاس ته) د نوبنار په خوا کبنې هم هغه ځائے دے چې نن هم په دغه نامه بللے شي. موصوف لیکي: "د لنډي سیند په غاړه چې لا جنګ شوے نهٔ وهٔ خان کجو راورسیدهٔ"..... ص ۱۶۱ او ګویند چې خان کجو له کالا پانی په نهایت زودی سره راکوچیدهٔ راغے د لنډي سیند په غاړه د شیخ تپور په برابری ډیره شهٔ" ص ۱۶۲. او بیا ''چونکه اکثر دران وقت درننگر ہار بودند وبعضے در پشور چنانچه قبیله سلیمان شاه ابن زنګی مهمند اود ےز ےکه اجمع وقت خود بود در پشور بود جابجا آومان رافرستاده تمامی لشکر مهمند وخلیل وداؤدزی که ہر یکے عراقی سوار بود خصوصا خلیل که ہمه مسلح وزره پوش بودند ودم اتاولا غیری می زدند جمع نمودند وبه جمعیت تمام وحشمت مالاکلام کوچ نمود. د خزم هغه خوا ډب په غاړه په شیخ تپور پریوتل.

ص ۱۶۳. خزم د نوبنار تحصیل د پشونګړو کلي (د شیخ تپور نه شپږ اووهٔ میله مغرب ځخو شمال ته) او د لنډي سیند تر مینځه تیره یوه ناله یا چره ده چې د پشونګړو نه په لږه فاصله شمال مشرق رویه او د برو زاخیلو (تحصیل نوبنار) شمال ته لنډي سیند وته پریوزي. زیاتې مشرق رویه د لنډي نورې لویې ورې چرې هم شته چې شیخ تپور ته مقابلتاً ورنزدې دي.

بله خبره چې په دې لړ کبنې غور غوارې دا ده چې د متعلق نوټ ص ۲۰۲ نوټ ۱ په اخر کبنې ما لیکلي دي چې کهٔ یوسفزي د مردان پیبنور په هغې لارې راتلهٔ چې له چارسدې تیریږي نو ډیره غیر اغلبه ده چې له داؤدزیو له لوري بې له څهٔ مزاحمته تر شاه عالمه رارسیدلے وے. د نور غور او وضاحت ضرورت له دې قبله پیبن شو چې د ځنو روایاتو او آثارو له رویه داؤدزیو په ابتدا کبنې د یوسفزیو سره استوګه کوله. بناغلے میاں بهادر شاه ظفر کاکاخیل په خپل د قدر وړ تالیف کبنې لیکي "داؤدزي....د غوریا خیلو د مهاجرت په لړ کبنې د دوي کردار واضح نهٔ دے. وئیلے شي چې دوي د خان کجو مرسته حاصله کړې وه او د هغهٔ په برکت د سمې علاقه کبنې د کلپانی په غاړه استوګن شوي وو ولې په اخر کبنې دوي د پیبنور په قطبي علاقه کبنې د کابل سیند د بناخونو په مینځ کبنې اباد شول. د دوي دا علاقه ډیره اباده او زرخیزه وه. (پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کبنې ص ۱۳۲۴، ۱۳۲۵)

تاریخ حافظ رحمت خاني په دا باب بنهٔ تفصیلات لري چې خلاصه ئې دا ده چې د غوریه خیلو لیږده شروع شوه نو داؤدزي (ټول) او ځنې مومند چې له مقره او قره باغه راغلي وو د کابل خواؤشا میشته وو. او ځنې مومند په خپلو اصلي ځایونو مقر او قره باغ پراتهٔ وو او دا وخت خلیل ترې بیل شمال مشرق لوري رارسیدلي وو مومبے له یوسف مندنهٔ ملهٔ او بیا ترې خلاف ورسره په باجوړ او خواوشا کبنې ئې جنګیدل. او اخر خلیل بیرته لاړل. وومبے له دې چې خلیلو مومندو پیبنور له دله زاکو رانیوو داؤدزي د یوسفزیو سره میشته شوي وو او

هغوي ورله د کلپاني او بګیاړی ښخه زمکې ورکړې وې. او چې خلیلو مومندو پیښور له دله زاکو ونیو نو داؤدزي هم ورسره د پیښور په زمکه میشته شول نو دا قیاس به بې ځایه نهٔ وي چې په ویش کښې به خلیلو مومندو و داؤدزیو ته هم هغه زمکه ورکړې وي چې د پیښور ښار قطب لورې د اشنغر او دوآبې تر حدونو رسي او د بوډنی رودګے ئې جنوبي او سردریاب یاد هادي زیو سیند ئې شمالي حد دے. او د شاه عالم او ناګومان سیندونه ئې تر مینځه بهیږي. په هر حال داؤدزے د شیخ تپور په جنګ کښې نهٔ صرف د غوري سره وهٔ بلکې لکه چې په تاریخ حافظ رحمت خاني کښې راغلي دي هم دوي او خلیلو ډیره مړانه کړې وه. "اما مهمندو نامردو بې غیرتو هیڅ ونهٔ کړل." (وګورئ تاریخ حافظ رحمت خاني ص ۴۰ تر ۴۶ او ص ۱۴۹ و ۱۵۱ او ص ۱۶۱، ۱۶۲ او ۱۷۹ تر ۱۸۱)

د تاریخ حافظ رحمت خاني د بیان له رویه دا یو عظیم جنګ وهٔ او د غوري د شکست نه پس ئې خان کجو سره د خپله لښکره تر پیښوره پورې تعاقب کړے وهٔ. او هلته ئې د غوري په کلیو تاخت و تاراج ګډ کړے وهٔ. اګر کهٔ د تاریخ حافظ رحمت خاني له بیانه دا هم لیدهٔ شي چې خان کجو تر څو چې د بندیوانو تعلق وهٔ غوري سره ښهٔ سلوک وکړو. او هغوي لره ئې ازادي وروبخښله. په هر حال لکه چې ما وړومبے عرض کړے دے (ص ۲۰۲ نوټ ۱) د دې جنګ په باره کښې لکه چې بیان ئې اخون درویزه کړے دے یا خواجو ملیزي یوسفزیو راویانو د مبالغې او ډیرې رنګ آمیزی او افسانه طرازی نه کار اخستے دے) کهٔ د دواړو ورونو او اولسونو تر مینځه په دومره لویه پیمانه مرګ ژوبله او تباهي او بربادي شوې وې لکه چې خواجو ملِیزي او اخون درویزه ئې بیانوي. نو کهٔ یوسفزیو د مرزا الغ بیګ بد (لکه چې ښاغلے محمد نواز طائر د تاریخ حافظ رحمت خاني په مقدمه کښې لیکي) نهٔ شو هیرولے نو پښتون د عزیز تربور بد څنګه هیروي. حال دا چې شیخ کمال الدین داؤدزے د مغلو برخلاف پښتانهٔ پاڅوي نو یوسفزي مندڼ سره د نور خښې لکه نورو پښتنو مرستې له رادرومي او یوسفزي چې د ختکو برخلاف لښکر کوي (لکه چې افضل خان وائي) نو درست غوري ئې امداد له ورځي د قبیلوي تفریق او تنګ نظری دغه وروروليِ د سختې دښمنی په حال کښې غیر اغلبه وه.

(۵) مقام ص ۲۰۸ نوټ ۵ او بلړ مذکور نوټ او ص ۲۲۶، ۲۳۰، ۲۳۱

مقام ناله لکه چې په متعلق نوټ کښې وئیلے شوي دي له شماله جنوب رویه راغلے څو میله ښکته کلپانی کښې ګډه شوې ده. او مقام او بلړ هم سره ګډیږي. د دواړو د

اهمیت(خصوصاً د بلړ په ورړومبي جنگ کښې د شهباز خان زخم خوړل او تري مړل نظر د ورانـدې) پـه وجه ئې نور وضاحت کوؤ. مقام ناله له شماله راغلے د غرۀ په خوا کښې د شهباز گـړې او بالا گړی تر مینځه د دوارو په خوا کښې له ورړومبي کلیه لویدیز او له دویمه خاتیز ته تیـره شـوې ده. او بیـا نور سهیل ته د گړي کپوره یا امازو گړی (لنگر کوټ) تر مینځه زیارت کپـور بـابا او گړهي دولت زئ او گړي اسماعیل زئ ته بالکل نزدې تري مغرب ته او د کوټ دولـت زئ او کـوټ اسماعیل زئ په خوا کښې تري مشرق ته د دوارو په جنوب څخو مغرب تـه غـلـه ډیـرو ته نزدې تري جنوب څخو مشرق ته کلپانی ته ورگډه شي. بلړ کنده له خاتیزه راغلـے د بازار گي (تحصیل صوابی) نه په لږه فاصله شمال څخو مغرب ته دهوبیانو (تحصیل صـوابـی) پـورې جـخـتـه تـرې جنوب ته بیا مغرب ته له گنبته (تحصیل مردان) قطب ته په لږه فاصله تیریږي. او بیا له گنبته په لږه فاصله تري شمال مغرب ته نزدې سواړیانو ته بالکل نزدې تـرې شـمال مشرق ته او مایارو ته هم نزدې تري جنوب مشرق رویه مخامخ تري مشرق ته په کـلـپـانـی کښې ورگډه شي. د گډون خانے جنوب څخو مشرق ته تقریباً د دوؤ میلو په فاصله قـاسـم نومے کلے دے او د قاسم نه په نیغو تقریباً د لسو دولسو میلو په فاصله جنوب ته د لنډې سیـنـد قـطـب تـه یـا پـه کـیـنـه غاړه مصري بانډه او ورته مخامخ جنوب ته د سیند په بنی غاړه اکوړے دے (و کـورئ د سـروې آو انـډیـا نـقـشـه ۴۳ بي ۴، ۱۹۱۶ء د کرنل براړډ سروئیر جـنـرل د هـدایـت لانـدې شائع شوے. یو انچ = یو میل او هم د سروې آو انډیا نقشه هم د دغه عـلاقـې ۱۹۳۴ء د بـریـگـیـډیر کوچمین سروئیر جنرل د هدایت لاندې شائع شوے. ۱ انچ = څـلـور میـلـه. په دغو دوارو نقشو کښې په بلړ چرته ئې نوم نشته بلکې په ورړومبی نقشه کښې پـرې بـت کـوړ ناله نوم کښلے دے. حال چې بتکوړ مقام مشرق ته له شماله د جنوب طرف ته راتلونکے د گیدړ شمال جنوب مغرب او د کنډرو شمال مشرق ته په بلړ کښې ورپریوزي.)

د جونو غر ص ۲۲۴ د جـونـو غـر درې څـوکې لري چې دوه پکښې زیاتې وچتې دي. دغـه درې واړه څـوکـې د لـرې نـه یـوه څـوکـه لیدے شي. غر لکه د یوۀ کوټ چې برجونه او مـورچـې لري لیدۀ شي او گوندې هم له دې قبله کافر کوټ هم بالۀ شي. وائي چې دوه یا درې پیـغـلـې جـونـه د دغـو غـرونـو خواؤشا خشاک توکولو لره وتلې وے. چې په بدو سړیو پیښې شـوے او د خپـلـې حیا د سلامتیا دپاره ئې له خدایه پاکه خواست وکړو چې گټې دې ئې کړې او دا خـواسـت قـبـول شـو د جـونـو غرۀ ته لکې جونه هم وائي. وئیل شي چې یوۀ وخت دلته د یـونـانـیـانـو کـوټ وۀ. خـو دغـه روایت مـحـض د گټو په هیئت بنا لري او تعمیري آثار هیڅ نشتـه.(پلاؤډن ص ۱۹۲ او د بستېر گډون "لائف ایمنگ دي پټهانز (خټکس) ص ۷۶، ۷۷ باب ۱۸ ص ۷۶ تر ۸۱.)

د لـکـو جـونـو نـه مـردا نـیـغـې یا سمې جونه دي. او د دې نوم وجه هسې خو ظاهراً د

خو کو نیغ والے دے چې ورومبی جونه وے. خو د هغو پښتنو پیغلو نیکی او راستی طرف ته د اشارې لطیفه هم لري. کافر کوټ، لکي جونه یا د جونو غر د بهادر خیلو نه په لږه فاصله تقریباً اووۀ اتۀ میله مغرب ته او د لتمر نه په څۀ لږه زیاته فاصله شمال مغرب ته د وزیرو په حد کښې واقع دے. د بنو ښار ترې جنوب څخو مغرب ته دے. (وګورئ د سروې آؤ پاکستان ۲۵۰،۰۰۰ ا شیټ ۳۸ کے

کافر کوټ نومے یو ځائے د ډیره اسماعیل خان د ضلعې په ډیره اسماعیل خان تحصیل کښې د بلوټ خواؤشا هم شته خو هغه دلته له بحثه خارج دے.

بابا رتا او د بابا رتا ډیری، ص ۲۴۶
نوټ ۲ او د تیر عنوان نوټ ۲۵

د برتا ډیری ګنبت کلي (تحصیل مردان) ته نزدې ترې جنوب مغرب او قاسم کلي مشرق او جوړی ډیریو مغرب د دواړو تر مینځه ترې په لږه فاصله واقع ده. د ګړي کپوره (د امازیو ګړی) نه جنوب ته ده او په نیغو به ترې دغه شپږ اووۀ میله وي. (وګورئ د سروې آو انډیا نمبر ۴۳ بي ۴، ۱۹۱۶ء)

ګیدړ ګلی ص ۳۱۶ د خیر آباد (تحصیل نوښار ضلع پیښور) شمال او کټي مینې (یا کټي میلې تحصیل نوښار) جنوب ته یوه تنګه.

شمشتو ص ۳۴۶ : د پیښور ښار نه جنوب ته تقریباً اتلس شل میله ایمل چبوتره یا سپینه تانه د کوهاټ د درې (یا دره آدم خیل) په قطبي برید په سرکاري علاقه کښې واقع ده. له سپینې تانې سړک شمشتو ته په زاخیلو (تحصیل پیښور) تیریدونکے تللے دے. شمشتو له سپینې تانې شمال مشرق ته او له بډه بیرې جنوب مشرق ته دے. د اورمړو کلي (تحصیل نوښار) ترې شمال ته دي. شمشتو د نوښار د ختکو او آدم خیلو افریدیو حدونو ته نزدې واقع دے.

فتح جنګ ص ۳۴۶ : د اټک یا کیمبلپور ضلعې (پنجاب) یو تحصیل او د تحصیل صدر مقام چې د حسن ابدال جنوب ته واقع دے.

پنډ دومیل ص ۳۴۶ : د فتح جنګ نه جنوب مغرب ته د اټک ضلعې په تله ګنګ نومے تحصیل کښې یو کلے.

لکی ص ۳۵۰ "د لکی نه هم پاڅیدم کډه مې په کرک پریښوده". له سیاقه سباقه لیدۀ شي چې دغه لکی نه مراد د مروتو مشهوره لکی نۀ ده په چوتره یا د ختکو چوترې او تل په حدودو کښې کوم کلے یا ځائے دے لکي غنډکي نومے یو کلے خو د مته خیلو (تحصیل کرک ضلع کوهاټ) نه په لږه فاصله ترې شمال مشرق رویه پروت دے.

ضميمه ۱

د برخو ميرمني پښتني بيبياني
(له ن ح ص ۸۲۵ تر ۸۳۰)

[۸۲۵] په دغه مقام کښې چې کومې خدائے پيژندونکې او ورته رسيدونکې او د ولايت درجه بيامونډونکې بيبيانې چې د کشف، کرامت او خرق عادت له قبله د دنيا له سرېو وړاندې دې د هغو ټولو شمېرل نهٔ شي کيدلے خو د برکت دپاره له هغو د ځنو يادونه کړل شي.

(۱) [۸۲۶] عصمت پناه بي بي دويه لور د شيخ سليمان دانا خور د شيخ ملهي قتال *(لکه چې موږ اکاهو په اجمالي ذکر کښې وضاحت کړے دے بي بي د مومند بابا کور ودانه وه. دغه وضاحت په مخزن افغاني تاريخ خان جهاني کښې له يوهٔ زيات ځلې شوے دے. دلته هم د ن ح فاضل محشي د ايشياټک سوسائټي کلکته د نسخې په حواله دا عبارت په حاشيه کښې علاوه کړے دے: "عصمت مآب بي بي دويه الميرعلائي شيخ سليمان دانا خواهر شيخ ملهي قتال رضي الله عنه در حباله عقد مهمند ولد دولت يار ابن غورا ابن کند ابن خرشيان بود." ظاهره ده چې مهمند غورا او خرشيان په ترتيب مهمند، غورا يا غوري او خرشبون دي.)*

په عبادت، رياضت او مجاهدت کښې ئې ډير لوړے شان درلۀ او د ورځې به روژه په خلهٔ او د شپې به په نمانځهٔ ولاړه وه. او دعا به ئې قبليده. د بنو بدو په باب به ئې چې هر څهٔ په ژبه تير شول په درنګ ساعت کښې به ښکاره شول او چرې به په عکس نهٔ شول. عجيبه کرامتونه ترې ظاهر شوي دي.

(۲) ذکر د عفت دستګاه بي بي راستي چې د خواجه يحيیٰ له نمسيو او د خواجه ويس سرواني کورودانه وه. د وينا ميّرمن او له ځانه ورکه وه او هر وخت (د خدائے په مينه کښې) ليونۍ او ډوبه وه. او اکثر به پرې حال غالب وهٔ. او د دنيا په معاملو ئې هيڅکله وتنه نهٔ وه. (فارسي عبارت "صاحب لفظ ومجذوب ومولہ ودائم استغراق داشت واکثر مغلوب الحال بود وبه مهمات دنيوی اصلاً وقطعاً نمی پرداخت". حاشيه د يوې بلې نسخې په حواله "وصاحب لفظ ومولہ ومجذوب الحال واکثر اوقات استغراق داشت وبه کار وبار دنيوی ملتفت نه بود". خواجه ويس له دې قبله چې د هغې احوال ترې بيل وهٔ د ريښم، پلوريو له کورنۍ يوه جينۍ وکړله. (فارسي: "از مردم ابريشم فروشے دخترے خواستگاری نمود".) او له (عام) وګړي او هم له بي بي ئې دا خبره پټه درله. تر دې چې آخر پس له څهٔ مودې جوته شوه. خو د بي بي په اطوارو کښې يو بکس خفګان هم پيدا نهٔ شو. (يا "ښکاره نهٔ شو". فارسي نقار........ شد". "نقار" کينه، بغض، دښمني، عداوت. يوه بله نسخه "نقاص" يعني مخالفت، برخلافتيا) خواجه ويس لاهور ته لاړ او هورې ئې يو قيمتي آس وپيرود او کور ته ئې واستوهٔ او

بي بي ته ئې وكښل چې اس ته دې پام كړي (۸۲۷) چې چاق شي. حال دا چې هغه د خدائے په يادو كښې داسې مشغوله وه چې له دنيا او چې څۀ پكښې وو ترې ناخبره وه نو آس چړے.
هر كله چې خواجه ويس خبر شۀ چې اس رنځور شۀ نو كښل ئې وليږل چې د بي بي له طويلې پرانستے هغې بلې ارتينې كړه ئې وترړئ او هغې ته ئې وكښل چې اس ته دې پام كړي. او د كښلو سره سم اس هغې كړه بوتلل شو. او هغې د اس په پالنه كښې بنۀ مښود شروع كړو څو ورځې پس بي بي طويلې لوري ته راغله او پوښتنه ئې وكړه چې اس څۀ شو. له حاله ور ووئيل شول (وې وئيل چې) خواجه ويس خو غوارې چې اس ئې څورب شي او زۀ ئې وينم چې په ډيرانونو كښې څر كړي. څنګه چې په ژبه ئې دا خبره تيره شوه. اس خوراک پريښود او سر ئې په ديوالۀ وهۀ او كۀ هر څو ئې دانه او وابنۀ وركول هډو خلۀ ئې پرې نۀ لګوله او ليونے او پريشانه شو. نو ناچاره پرائينست او ايله ئې كړو. په ډيرانونو سر شو او پرې ګرځيدو. او له اسه لګه خر شو. څو ورځې پس وليد شو چې په ډيرانونو كښې مړ پروت دے دغسې د بي بي ډير كرامتونه نقل دي.
(۳) ذكر د عفت مآبې بي بي شيخزادي: دا هم د خواجه يحيیٰ كبير له نسله او د ميان نرمان (څنې نسخې "تركان" او "نزمان") ولد ميان دودا (يوه بله نسخه داود) سيداني په نكاح وه. ډيره رسيدلې عبادت ګزاره او روژه داره وه. او د دنيا په معاملو ئې وتنه نۀ وه. څښتن ئې ډيره نمانځنه كړه او چې (۸۲۸) په هغې حال ډير غلبه شو نو ميان ترمان بله ارتينه وكړه او له بي بي ئې پټوله. يوه ورځ ميان ترمان د بي بي په خدمت كښې ناست وۀ. ورته ئې ووئيل چې ترمانه زۀ دې ناست وينم وُدَره. ميان ترمان ئې له خدمته پاسيد او پلار ميان دودا لره تللے له بي بي ئې خفګان او ګيله وكړله چې دا شان ناساپه وينا ئې را وكړله. ميان دودا وپوښتلو چې ترمانه ګوندې بله ارتينه دې كړې ده. ور وې وئيل هو. وې وئيل بنۀ و نۀ شول. ډير بد دې وكړل چې بي بي د بي بي د رضا دې هسې چار وكړۀ. څو ورځې پس ترمان هسې ناروغه شو چې د مرګ خواست ئې وكړو. دغه خبر ئې پلار دودا ته ښكاره كړۀ او د مرګ خواست ئې وكړو. هغۀ ور ووئيل چې ترمانه له خدايه مې غوښتي دي چې سره د ايمانه ګور ته لاړ شے. د پلار له خدمته د بي بي په ملازمت راغے او هغې ته ئې هم ووئيل چې په حقله ئې دعا وكړي چې خاتمه ئې په خير شي. وې فرمائيل چې خدائے تعالیٰ به دې ايمان روزي كړي. څو ورځې پس ميان ترمان حق ورسيد.
(۴) ذكر د دوران د هغې صالحې او د زمانې د ساجدې بي بي صورت لور د ملک بستان كاكړ نيكۀ د ميان هيبت خان چې د دغه تاريخ د ليكنې باعث دے. هر كله چې بي بي صاحبه د

پوهې عمر ته ورسیده نو قرآن او د فقهې څو کتابونه ئې ولوستل او د شرعې مسئلو په علم کښې ئې هغه وخت مثال نۀ وۀ. د هغه وخت ارتینو به ټولې مسئلې هم له هغې پوښتلې. اکثر خپل خپلوان به ئې د غوښتو په نیت راتلل. خو هر کله چې والدې شریفې (اصل "والده شریف" باید چې والدۀ شریف یا والد شریف وي) به ئې ولیدل چې په تلاوت او خپل شغل مشغوله ده نو دې خبرو (۸۲۹) ته ئې پام نۀ کړو او خپله لور ئې د چا په نامه نۀ کوله. هر کله چې د خپلو خپلوانو غوښتو زور ونیو نو یوه ورځ ئې خپله مور وپوښتله چې دغه ګردې ښځې هره ورځ څۀ لره تاسو کره راځي. مور ئې خبره ورښکاره کړه. وئې فرمائیل چې کۀ بې زما له رضا مو دا کار وکړ نو سبا د قیامت په ورځ به زما لاس او ستاسو لمن وي. نو پسته ئې مور پلار هر څوک چې به راتلل سکوت ځواب به ئې ورکولو او لکه چې له موره زیږیدلې هم هغه شان تر ګوره او قدسي عالمه لاړه. او هر څوک نا محرمه کۀ به د شپیه د هغوي عبادت خانې یا د ارام د ځائې په خوا تیر شو ړوند به شو. ("از بصارت محبوب مي شد" باید چه "محجوب مي شد" وي) یوه شپه د خپلوانو یوه ډله په دې نیت چې وګوري چې د بي بي حال احوال څۀ دے د هغې د وده کیدو ځائې ته راغله او کۀ هر څو ئې مرسته وکړه د هغې پالنګ ئې چې به پرې وده کیده له نظره پټ وۀ. پښیمانه او ملامته خپل کور ته وجاروتل. د مور پلار د مرینې نه پس ورته په میراث کښې ډیر مال حال پاتې شو خو ټول ئې د خدائې په لارې کښې خرڅ کړو او ډیرې روپې (یا ټولې روپی لکه په اصل کښې "مبلغ كلي" یعنې ټول نغدیت.) د سامانې ځنو خلقو او صرافانو څخه پاتې وے. (اصل"و مبلغ كلي نزد بعضي مردم شهر سامانه پیش صرافان ماند" ما په ترجمه کښې د "مردم شهر سامانه" نه پس "و" علاوه کړه. ځکه چې بې د دې نه به عبارت څۀ ناقص او مبهم پاتې کیږي. د "و" په حذف به ئې توجیه په تکلف داسې کیږي چې خلقو د بي بي له پلار و موره روپی اخستې یا پور کړے وے صرافانو څخه ئې ایښے وے. والله اعلم بالصواب.) معامله تر حاکمانو ورسولې شوه او له یوې معاملې اویا زره سکندري ټنګې تر لاسه ورغلې. بي بي صاحبې د سامانې د ښاره له راوتلو تر خپله ځایه او کوره [۸۳۱] تر رسیدلو ټولې د خدائې دپاره په فقیرانو خوارانو وویشلې او یوه پیسه ئې هم کور ته یو نۀ وړه. د عبادت او ریاضت په میدان کښې ئې د سبقت ګوئے له سریو وړے وۀ. د هغه دور خلقو به ترې د خپلو حاجتونو دپاره د دعا سوال کړو او مرادمنیدل به. او ټول عمر یوه ګړی هم بې تلاوته بې ذکره نۀ وه. او د بصرې د رابعې عدویې (د بني عدي د قبیلې بي بي رابعه د بصرې ښار وسیدونکې د حدیث د علم ماهره د ډیرې لویې برخې میرمن او د حضرت سري سقطي معاصره وه. د وصال کال ئې ۱۸۵ هجري (۸۰۱ء) دے. وګوری قاموس

المشاهير جلد ۱) نه پس بله ارتینه د بې بې صورت په شان نهٔ وه تیره. په سخاوت او د خلقو په غم رازی کښې ئې مثال نهٔ درلهٔ.
(۵) ذکر د عفت آیات مجذوبې مولهې: چې د عرش آشیاني اکبر باچا د باچهی په زمانه کښې د کیتهل د پرګنې له کلیو په یوهٔ کښې ښکاره شوه. او تل به مجذوبه او مولهه (شیفته، او عاشقه) او لیونی او بې‌خوده او بې شعوره وه. (مست و لا عقل بود) هر کله چې به د رحمت باران وریدلو خپلې سترګې به ئې اسمان ته وازې ونیولې او تر ځلورو پینځو ورځو به حیرانه بې خوده ولاړه وه او بانهٔ به ئې نهٔ ځنبول. او له بارانه، باده او تندر به هیڅکله نهٔ رنځیده. (اصلاً متاذي نه شدے) او بیا به چې په خپل (ړومبي) حال راغله هم هغسې مستغه به ګرځیدله او هره خبره به ئې چې کړه عین له عرفانه او حقیقته به وه.

ضمیمه ۲

د خواجه نعمت الله د همکار هیبت خان کاکړ د کورنی حال او نسب نامه چې هیبت خان پخپله په فارسي کښلې دي او دلته په پښتو وژباړل شوٰ.
(ن ح جلد ۲ ص ۸۸۳ تر ۸۸۹)

[۸۸۳] اوس نو دا څو خبرې د خوار او خاورې هیبت خان د نسب په باب کښل شي. چې د وختونو د تیریدو او د میاشتو او کلونو د ختمیدو نه پس ئې مرادمن زامن او بختور نمسي او کړوسي د خپلو پلرونو نیکونو له حالاتو او د عزتمندو مشرانو له شرفه خبردار وي. او د هغوي له ښو کړو او ښکلیو کارونو واقف شي. او معلوم ئې کړي او ورسره سم د حق تعالیٰ په پیژندنه او نمانځنه او د شریعت په پس روی او ښو چارو کولو کښې لکه چې باید مښود او مرسته وکړي. او له تول وګړي او مسلمانانو وروڼو په ډیر ښهٔ شان سلوک وکړي او د هغوي د ویاړ وړ نمونه د نظر د وړاندې د خپل نوم نښان دپاره دې کوشش کړي چې د ښهٔ نیته سره سم د دواړو جهانو ثواب وګټي.
د سترګه ورو عزتمنو مرادمنو بچیو له بختورو زامنو او پوهانو وروڼو و زړونو ته‌دې ښکاره او څرګند وي چې هر کله د سلطان بهلول او د جونپور د سلطان محمود شرقي تر میان شخړه راغله او سلطان محمود د ډیر شان شوکت او زیات لښکره سره راغے او د دهلي کوټ ئې ګیر کړو سلطان بهلول په هغو ورځو شپو کښې په دیپالپور کښې وهٔ. د خپل لښکر

د کمي او د دښمن د فوځ له زياتي ئې زړه ته خطره ورپريوته او د ډيرې پوهې او هوښيارتيا له رويه ئې له اخلاصه پُر کښل و کړل چې د روه له پښتنو ئې پکښې مرسته او کومک [۸۸۴] غوښتلے وه. د هغوي هره يوه ډله د خپله وسه سره سمه هندوستان ته راغله. (په هغو کښې) ملک فيروز د فقير پينځم نيکۀ (هم) د خپلو ورونو عزيزانو د ټولي سره هند ته راغے او د سلطان بهلول د ملازمت شرف ئې درلود. سلطان هغوي ونمانځل او په شان شان مهربانو ئې عزتمن کړل. او چې د سلطان بهلول د فتح خان هروي سره چې د سلطان محمود امير الامرا او سپه سالار وه مقابله وه نو له ملک فيروزه ستري مرستې او لويې کارنامې ښکاره شوے. او هر کله چې د خدائے په فضل سلطان بهلول برے بيامونده او فتح خان ووژلے شو او د دهلي مملکت بې وسواسه په لاس کښې راغے هغه ډله چې د روه له ملکه د سلطان د امداد دپاره راغلې وه له هغې ئې ټولو سره ډيره مهرباني وکړه. څوک چې په هندوستان کښې پاتې شول عهدې او جاګيرونه ورکړل شول او څوک چې وجاروتل صلې او انعامونه ئې واخستل.

سلطان بهلول په ډير خواهش او کوشش ملک فيروز په هند کښې وژغورلو او د سرهند په سرکار کښې د پائل له پرګنې ئې ورته پنځوس کلي په طور د جاګير وبخښل. او د امراؤ په لړ کښې راغے او خپل وخت ئې په خوشحالي او خير خوبي تيرولو حق تعالي ورته دوه زامن وبخښل. ملک فيروز له هغو يو لقمان او دويم ملهي ونوملو لقمان د فقير څلورم نيکۀ دے او ملهي د سليم خان مسند عالي دريم نيکۀ دے چې د سوريانو باچهانو په دور کښې د پنځوسو زرو منصب ته رسيدلے وه. د ګوړ حاکم وه او په مکر و فريب ئې تاج کرلانے شهيد کړے وه چې بيان ئې د کرلانيو په حال کښې تير دے. او د نسل تفصيل به ئې د کرلانيو په ذيل کښې راشي. [۸۸۵] قصه دا چې زامن ئې د کمال ځښتنتان شول نو ملک فيروز خان د ملکي خطاب خپل مشر زوي ملک لقمان ته وبخښلو او د هغۀ په روزنه کښې ډير مښود وکړو او څۀ موده پس د سلطان بهلول د باچهي په اخرو ورځو شپو کښې حق ورسيد. پس د پلار له مرګه ملک لقمان د سلطان بهلول ملازمت وکړ او عزت ئې بيامونده. هر کله چې د قابليت نخښې د ملک لقمان له وچولي څرګندې وے سلطان ورسره مناسبه مهرباني وکړه او د پلار جاګير او تنخواه ئې ورو بخښل. او چې سلطان بهلول د ځان امانت د ارواحو په قبضونکي وسپارلو او سلطان سکندر د هندوستان د حکومت په تخت جلوس وفرمائيلو نو ملک لقمان ئې د ملازمت کولو شرف بيامونده. هر کله چې د مشرى شان ئې د ملک له تندي ښکاره بريښيدونکے وليد سلطان سکندر ورسره ډير زيات ښۀ سلوک وکړ او په شان شان مهربانيو ئې سرفراز کړو او تُغ او علم او نغاره ئې ورو بخښله. او په وچتو مرتبو او سترو

منصبونو ئې ممتاز کړو. او د اټاوې پرګنه ئې ورله په جاګیر کښې ورکړله. او د هغه عادل بادشاه د پام له برکته دنیا ئې ډیره شوه. او د لویو امیرانو او سترو خانانو په لړ کښې داخل شو. او د دنیا معاملې ئې کمال ته ورسیدې. تر دې چې طویلې ئې له اسونو او غر بدنه او د یو منظره هاتیانو تر هسې ډکې شوې او د شان شوکت لوازمات مال حال او اسباب ئې د مانیو دومره ډیر وۀ چې له کښلو قلم او له ویلو ئې ژبه پاتې ده او پاک او لوئې الله ورلره یو سعادتمند فرزند ورکړ چې ملک بستان ونومید او ملک لقمان د هغۀ نیک بخته زوی په روزنه کښې ډیر مېنود وکړ تر دې چې د پوهې او د ښۀ بدپیژندنې عمر ته ورسید. او [۸۸٦] د سلطان سکندر د ملازمت شرف حاصلولو لره به د پلاره سره تلو راتلو. تر دې چې د پلار په ژوند د امارت مرتبې ته ورسید. او سلطان به د هغوی په حقله د ډیرې مهربانۍ توجه کوله. هرکله چې خدائې پاک په قضا ملک لقمان وته د اخرت سفر ورپیښ شو نو سلطان سکندر د ملک بستان په باره کښې ډیرې بخښنې او بې کچه نمانځنې وکړې او حکم ئې وکړ چې د سامانې په بناریه کښې دې استوګه وکړي. او هم هغه خواؤشا ئې جاګیر وربخښلو او د الله پاک د مهربانیو په برکت د ملک بستان مال حال تر هسې حده ورسید چې پرته د امارت له شان و شوکته درې سوه اسونه یه ئې په طویله کښې د سوداګری او پیر و پلور دپاره تلۀ راتلۀ. نو د سلطان د حکم په تعمیل کښې او د خپلو خپلوانو دپاره چې د سامانې خواؤشا پرګنو لکه کیتهل، سنور او سنام وغیره ؤ کښې وو ملک بستان په سامانه کښې استوګن شو. (ـ کیتهل سنام او سامانې دپاره وګورئ تیر نوټونه. سنور غالباً چې سناور دے چې د پیرنګوالې پټیالې ریاست کښې وۀ) او د ماتلتیا کله ئې واچوله. او ډیر د اوبو حوضونه، کوهیان او کوټونه او مقبرې ئې جوړې کړې او هم په هغو شپو ورځ کښې د لودیانو حکومت پائې ته ورسید سلطان ابراهیم د شهادت په درجې فائز شو. او د پښتنو په ډلې کښې لویه غلبله ګډه شوه. ملک بستان امارت او حشمت پریښود او خان له یوۀ اړخ ته ئې په عبادت ریاضت، طاعت او په روژه او نمانځۀ به ئې شپې ورځې [۸۸۷] تیرولې. او دغه کار ئې د کمال تر درجې ورسولو. او ډیرو خلقو ترې ډیرې ډیرې فائدې بیاموندلې. او هره ورځ به دوه منه صابون او دوه منه تیل په خوارو غریبو ویشلې کیدل. او د هر یوۀ به یو پاؤ صابون او هم دومره تیل رسیدل. او هر یو بیچاره او محتاج او زېلې سپاهي به خپل مراد ته رسیدو او دا ټول مال دولت چې د پلار نیکۀ له وختونو راهسې ئې ټول کړې وۀ د خدائې په لاره کښې ئې ولګوۀ. او د هرې جمعې په شپه دریؤ سوؤ ارتینو وظیفې بیاموندلې. د مولانا احمد مدرس ئې چې د عالمانو عالم وۀ د طالبانو د فائدې او تعلیم دپاره سرپرستي به کوله چې هره ورځ د طالبانو بوه

ډلـه به ورتله. سبق به ئې ترې لوستو. او فائده به ئې ترې اخستله او يوميه به ئې د ملک بستان لـه سـر کـاره بيـامونډله. او د هرې جمعې په شپه به بې ناغې د درويشانو او اهل حال زيارت له تلو او له ځانه سره به ئې د سرو او سپينو ډکې بوټخکې وړلے. او دا هسې شان به ئې د هغوې په خدمت کښې پريښودلے چې نهٔ شوه معلوميدلے چې له کومې راغلے او د ملک بستان ښهٔ اوصاف او ښکلي اخلاق څهٔ هومره نهٔ دي چې په وئيل او کښل به راوړل شي. او خدائے تعالیٰ ورلـره يـو زوے او يـوه لـور بـخښلـي وو. زوے نـې مـلـک ښـادي نوملے وهٔ او لور ئې بي بي صورت. او دواړه په ظاهري او معنوي ښيګړو پسوللي وو.

هـر کـلـه چـې مـلـک بستـان جـنـت الـمـاويٰ وته لاړ نو ملک ښادي خان د اسلامي شـريـعـت وچته او غوره طريقه اختياره کړے خپل مبارک وخت د سوداګرۍ په حلالې ګټې تيـرولـو او د بـي بي صورت د عالي درجات ذات صفتونه په وئيلو کښې نهٔ شي راتلے. چې د خپلې زمانې رابعه او د دوران مريم وه. او د هغې له مبارکه حاله څخو د عارفو او نيکو بيبيانو د حال بيانولو په لړ کښې ووئيل شول او هم په دغه اکتفا وشوله.

[۸۸۸] لـنـډه دا چـې لـه هـغـه پـسـه مـلـک ښـادي خـپـل وخـت د خدائے په رضا جويۍ کښې تيرولو او ډيرو خلقو ترې فائدې اخستلے د هغهٔ هم يو زوے وشو چې سليم خان نوم ئې پرې کيښـود. چـې د پوهې او د ښهٔ بد فرق کولو عمر ته ورسيد نو پلار ئې باقي عالم ته لاړ. او ډير دولـت چـې له پلار نيکهٔ ورپاتې وهٔ د خدائے تعالیٰ په لاره ئې خرڅ کولو او د مشرانو پيروي ئـې اختيـاره کـړے پـه تـجارت او د عـبادت پـه ګـوټ کـښـې بـه ئې ساعت تيرولو. او حلال خوراک څښاک او طاعت به ئې کولو. او له سليم خانه کمترين د دوستانو او درويشانو مئين هيبت په وجود راغے او خپل وخت ئې په سپاهګرۍ او کسب حلال تير کړے دے او تيروي ئـې او لـه دغـه فـقيره هم د خدائے تعالیٰ د بخښنو له برکته څلور زامن په وجود راغلي دي. او هيـلـه ده چـې لـوئے خدائے پاک د هغوې او د ګردو نمسيو کړوسيو چې پس له دې پښت په پښت به ظاهريږي توفيق رفيق کړي. او د پلار نيکهٔ په منډه يون، هميشګۍ، نيک بختۍ او د مـقـصـود پـنـګه ګټلې له دغه رويه په عبادت او طاعت او د اسلام او شريعت پابندي کولو او معـرفـت حـاصـلـولـو کـښـې مشغول وي. او يو بکس ترې هم هغه خوا دغه خوا نهٔ شي. او د قيـامـت پـه ورځ له هميشګۍ عذابه خلاصے بيا مومي. او ابدي خوشحالي حاصله کړي. او د خپـلـو ګـردو مسـتـحقانو او حقدارانو ياد دې د هغو په ارواحو د فاتحې سره کړي. او دغـسې دې ئـې خـوشـحـالـه خـوشـخـوخته لري (نو)(قوسين له ما دي) د خدائے تعالیٰ په کرم به خپل مـطـلـب او مـرام تـه ورسي. د ربښتياؤ او ربښتينو له مخه.(اصل عبارت "بحق الحق و اهله". د

ډورن ترجمه "په مرسته د پیغمبرﷺ او د هغوي د پیروانو" (د حصه ۲ ابتدائیه ص ۱۱۷)

او د فقیر شجره تر قیس عبدالرشید چې د پټان په خطاب مشهور دے داسې ده او لله بنـو دونـکـے دے د سـمې لاري.(اصل عبارت "والله الهادي الى سبيل الرشاد")ډیر کمزورے بـنـده هیـبـت خـان زوے د سـلـیـم خـان زوے د ملک بنادي خان زوے د ملک بستان زوے د مـلـک لـقـمـان زوے د مـلـک فـیـروز زوے د ملک نسو زوے د ملک یحیي زوے (۸۸۹) د مـلـک حسـیـن زوے د مـلـک الیاس زوے د ملک ابابکر زوے د جدرام زوے د کاکړ زوے د دان زوے د غـورغشـتـي زوے د مـلـک پـټـان. هر کله چې د ملک فیروز دوه زامن وو ملک لـقمان او میان ملهي. له ملک لقمانه د فقیر نیکونه پیدا شول. د ملک ملهي زوے وزیرید په هـغـهٔ ئې ابدال نوم کیښود. او له ملک ابدله میان سلیم خان مسند عالي په وجود راغے چې د حـکـومـت او امارت مرتبې ته ورسید.(اصل عبارت "به مرتبه ولایت و امارت رسید" ما ترې مـطـلـب دا اخستے دے چې والي او امیر شو د یوهٔ ملک ایالت او امارت وروسپارلے شو.د ډورن تـرجـمـه: د سـرداری شـان شوکت ئې حاصل کړ" الخ. او په بنګاله کښې ئې څو کله حـکـومـت وکـړو او پـه دوکـه ئې تاج کرلانړے د شهادت درجې ته ورسولو او د مسند علي سـلـیـم خان نه دریا خان پیدا شو او له دریا خانه بهادر خان په وجود راغے چې د هغوي او؟د هـم ژونـدے او پـه خانے دے. او له دغه فقیره څلور زامن په وجود راغلل. حسین خان او سبد خان او حاجي خان او غازي خان. لونړے الله پاک دې دوي د پلار نیکهٔ په پیروي کښې تینګ او کلک لري. او د دوارو جهازونو مراد دې ئې نصیب کړي. او د غه نیازمن خاتمه دې د ښهٔ عـاقبتـه سـره وکـړي. پـه خپـل فـضـل او د کـرم پـه کـمال. او صلوٰة او سلام دې وي د دهٔ په نبيﷺ آمین. الحَمدُ لِلّٰهِ رَبِّ العٰلَمِین.

ضمیمه ۳

د کتاب تاریخ خان جهاني مشهور په مخزن افغاني و پائې ته د رسیدو تاریخي قطعه او د جهانګیر باچا او د نواب خان جهان مدح او حمد او سلام

ہزار شکر خدارا کہ یافت این تاریخ	زیمن عاطفت و التفات او انجام
جمعه دہم بوز ماہ ذی الحجہ	ہزار و بیست یک از ہجرت رسول انامﷺ
زمان سلطنت شہریار جم مقدار	خدیو جملہ آفاق و بادشاہ کرام
جہان پناہ جہانگیر خسرو عادل	کہ رستہ خلق بدورش زمحنت ایام
بنام نامی اسم گرامیٔ نواب	کہ ہست ماحیٔ او ثان و حامیٔ اسلام

سپیر مرتبه جم جناب عالی قدر | که گشته تو سن ایام زیر حکمش رام
شجاع و صاحب اخلاق و باذل و جواد | کریم و منعم و دریا دل و زمانه غلام
خدایگان ملوک زمان خان جهان | که بادتا ابداز عمرو بر شیرین کام
چو از شجاعت او درزمان شود مذکور | وگر ز سام نریمان کسے نگیرد نام
چو دست جود کشاید به بذل سرخ و سپید | زروح حاتم طائی برون بر و آرام
بروز رزم چو جولان کند به عرصه جنگ | عدو زهیبت آن خون برون د مدرسام
مادر ایام ایں چنین ملکے | ندیده چشم فلک کا ملے چنین به نظام
همیشه تا بود این چرخ درشتاب و درنگ | مدام تابود این نه سپر نیلی فام
زمانه تابع و عالم مطیع رائیش باد | فلک مساعد و طالع رفیق و بخت بکام
به ملتجائے مرادات خویش فائز باد | به حق احمد مرسل علیه الف سلام

الحمد لله اولاً و اخراً و ظاهراً و باطناً والصلوٰة و السلام علیٰ
نبیه المجتبیٰ و رسوله المصطفیٰ علیه افضل السلام والصلوٰة
و سلم تسلیماً دائماً کر کثیراً برحمتك یا ارحم الراحمین

ضمیمه ۴

د کتاب خنې ناقص او مشتبه ځایونه:

ښاغلي لوستونکي به یاد کړي چې له دي وړومبی هم د هغوي پام د کتاب خنې ناقصو او بې رابطه ځایونو ته په نوټونو کښې کرخولے شوے دے. مثلاً ص ۳۴۸ نوټ ۱ علاوه له یادو شوو ځایونو داسې یو څو نور ځایونه هم زما تر پامه راغلل چې یا خو ناقص او یا غیر واضحه او مشتبه دي. نو اوس د دغو ځایونو نښاندهي ښاغلیو لوستونکیو ته کوم:

۱ په ص ۵۹ نوټ ۳. هم وګورئ) مونږ لولو چې د سلطان سکندر لودي د تخت نشینی په وخت د هغهٔ شپږ زامن وو چې نامې ئې ابراهیم خان، جلال خان، اسمٰعیل خان، حسن خان، محمود خان او شیخ اعظم خان همایون وے. بیا بې له دې چې د سلطان سکندر د عهد حکومت له آغازه تر انجامه یعنې د هغهٔ تر وفاته ئې د نورو زامنو د زیږیدو ذکر شوے وي. نو مونږ د سلطان ابراهیم لودي د عهد حکومت په بیان کښې (ص ۷۳) لولو چې اسمٰعیل خان او حسین خان او محمود خان او دولت خان وروڼه د دهٔ چې د دهٔ په قید کښې وو الخ. یعنې د سلطان ابراهیم لودي په قید کښې وو لکه چې ما په ص ۵۹ په نوټ ۳ کښې

وضاحت کړې دې فرشته د سلطان سکندر لودي د زامنو په نامو کښې د حسن خان په ځائې حسین خان نامه لیکلې ده. د تاریخ خان جهاني مخزن افغاني په فارسي نسخه کښې د سلطان سکندر لودي د تخت نشینی په وخت ئې د زامنو هم دغه نامې لیکلې دي کومې چې په پښتو ترجمه کښې راغلې دي. (جلد ۱ ص ۱۷۱). په شجرو کښې زمونږ پښتو نسخې د سلطان سکندر د زامنو نامې نهٔ ورکوي او یاده شوې فارسي نسخه ئې د زامنو دا نامې ښيي: یکې سلطان ابراهیم، دوم جلال خان، سوم اسمٰعیل خان، چهارم حسن خان، پنجم محمود خان، ششم دولت خان (جلد ۲ ص ۲۱۲). دلته د شیخ اعظم همایون نامه نشته.

۲. د رهتاس د کوټ د تعمیر بیان. نور ئې قلعه د رهتاس برپائې کړه.....ځو کوټ تیار شهٔ". (ص ۱۲۶ او ۱۲۷) او فارسي نسخه تاریخ خان جهاني مخزن افغاني "... ---- پس قلعه رهتاس را بنا کرد------ چون قلعه به اتمام رسید بر حسن اهتمام و فراست تودرمل تحسین بلیغ نمود" جلد ۱ ص ۳۱۵، ۳۱۶). له دې دا ګمان کیږي چې د رهتاس کوټ (علاقه جهلم، پنجاب) چې شیر شاه بنا کړے وهٔ. هم د هغهٔ په ژوندانهٔ بشپړ شوے وهٔ. خو جهانګیر بادشاه په خپل توزک کښې لیکلې دي چې د کوټ څهٔ لږه برخه جوړه شوې وه چې شیر شاه وفات شو. او د هغهٔ زوي اسلام شاه کوټ بشپړ تیا ته ورسولو. (وګورئ توزک جهانګیري اردو ترجمه ص ۱۲۲ او تاریخ جهلم ص ۱۵۶ او ۱۵۷).

۳. "بل ئې په بنهر د اټک........ مات کړ". (ص ۱۹۵). غالباً چې دلته هم د نسخې ناقل د خایړنو د نومونو د صوري او صوتي مشابهت له قبله هم هغه شان غلطي کړې ده. لکه چې ئې د جُنیر په ځائې خیبر ولیکل. (وګورئ ص ۱۶۹ نوټ ۲) د قطب الدین خان سوانح عمري مآثر الامرا جلد ۳ ص ۱۰۱ تر ۱۰۸) هم دا مسئله نهٔ حل کوي. ګوندې د نظر د وړاندې عبارت کښې یاد شوے بنهر اوریسې د صوبې بنهر کټک وي. ترې له وړومبې د عبارت نه هم د دغه قیاس مرسته کیږي. په هر حال زما شک او شبه او ځهٔ مې چې په دې باره کښې وونیل په قیاس بنا لري او له دستاویزي او قطعي شهادته لا تر اوسه موثق نهٔ یم.

۴. په ص ۲۰۸ د نیلاب د بنهر ذکر دے چې پکښې یو لک کورونه وو. لکه چې ما د ص ۲۰۹ نوټ ۵ او ص ۲۲۴ نوټ ۳ کښې عرض کړے دے، خوړه، نیلاب د ختکو د یوې تپې نوم دے. د پښتنو د زمکې طبعي حد د اباسیز سمه غاړه ده. خو هر کله چې نیلاب د کهترو بنهر یاد شوے دے نو ګمان مې وکړو چې ګوندې د اباسین کیڼې غاړې ته هم څهٔ برخه د نیلاب په نامه یاده شوې ده او عرض مې وکړو چې په وثوق نهٔ شي وئیل کیدے چې د نیلاب بنهر چې اباسین ته چیرې نزدې پروت وهٔ کومې غاړې ته ئې وهٔ. هر څو کهٔ په

ص ۲۰۹ د دغې خبرې وضاحت نشته خو په ص۳۲۸ افضل خان ليکي: "په نظام پور نورو سوائي بيرې پيشګي د ګل فقير په ميله ودرولې وې. تر سينده و نيلاب ته پورې شوم.... زهٔ چې په ګړهي د جعفر نيلابي ورغلم" الخ. نظام پور د اباسين په سمه غاړه پروت دے نو افضل خان چې له نظام پوره تر سينده و نيلاب ته پورې ووت نو نيلاب د اباسيند په کينه غاړه پروت وهٔ. نو له دغه عبارته دا خو ښکاره شوه چې نيلاب د اباسيند پورې غاړې ته هم وهٔ خو آيا د نيلاب نه د افضل خان مراد چې هغه ورپورې وتے وهٔ علاقه ده کهٔ د ښهر؟ په ص ۲۰۹ د افضل خان له بيانه قياسيږي چې ګوندې د اکبر بادشاه تر عهده خو دغه ښهر ښهٔ آباد وهٔ او د مؤلف په زمانه کښې ورک يا وران وهٔ. او يا هغه زور رونق او شان شوکت ئې نهٔ وهٔ پاتې. په دې لړ کښې "د تاريخ حافظ رحمت خاني" د خان کجو د اقتدار او تسلط په حقله دا بيان هم د نظر د ورانـدې د ساتـلـو وړ دے: "او درست ختيک او پورې تر اباسينده تر نيلابه هغه دا ملکونه واړه د دهٔ مسخر وو.(ص۱۸۵) اګر کهٔ له دغو اقتباساتو دا خو جوته شوه چې د اباسيند پورې غاړې يوې خطې ته به ئې هم نيلاب وې. او ګوندې سمې غاړې ته ئې د دغه نوم په علاقه دا نوم چرته وروستو حاوي شوے وي او غالباً چې ښهر د سيند پورې غاړې ته وهٔ. د اباسينده پورې غاړه اوس هم يو وړوکے کلے باغ نيلاب، نومي. زمونږ ختيکنامې ته مخامخ او ډير نيزدې پروت دے. ... د نن نه تقريباً خلور سوه کاله آګاهو پښتونخوا ته نيزدې بلکه جخت (او ممکنه ده پکښې) د دغه لوئے ښهر په حقله معلومات او تفصيلات حاصلول به د تاريخ د طالبانو د ذوق د ډير زيات تسکين باعث وي.

۵. ص۲۱۷ "وائي چې په زمکه د ايلاق او د قشلاق کرلاڼ لهٔ موره تولد شهٔ چې سبب د واقعې و احشامات ته روان شول". الخ.

ايلاق په ترکي ژبه کښې د اوړي تيرولو دپاره يخ خائے ته وائي او په عکس ئې قشلاق د ژمي تيرولو دپاره ګـ م خائے ته وائي. او ايلاق کول او قشلاق کول په ترتيب په داسې ځايونو کښې موسم تيرولو ته هم وائي. نو په يوهٔ وخت د يوې زمکې د ايلاق او قشلاق منزکه کيدل راته جوت نهٔ شول. بيا حَشَم په عربي کښې نوکرانو خدمت ګارانو ته وائي. احشام ئې جمع ده. نهٔ شو وئيلے چې له احشامات دلته څهٔ مطلب او مراد دے. پلاؤډن ترې په خپله ترجمه کښې ځنګل مراد اخستے دے. او دغه معنٰي خو ښندي. او په مخ (ص ۴۲۲) هم د دې قصبې په لړ کښې د صحرا لفظ استعمال شوے دے. خو کهٔ د دې لفظ تعلق د "حشم" سره وي نو نهٔ خو ئې په عربي او نهٔ فارسي کښې د ځنګل يا صحرا په معنٰي کښې استعمال راته معلوم دے. البته خشام په عربي کښې د غرهٔ څوکې او لوئے غرهٔ ته وائي. (مصباح او

منتخب) خو جمع ئي خياشيم راځي.
۲. پـه ص ۲۲۲ مـونـږ ولـوستـل چـې د "فيروز خان شهږ زامن رو. ممريز خان، همت خان او جهـان خـان لـه يـوې مـوره وو. مـور ئـې غوريه خيله وه له نسله د داؤدزي. دوه درې زامن ئې سـوريتي وو. او څلور پينځهٔ زامن ئې فوت شوي وو". دغه ګنه د شپږو نه زياته ده. کهٔ شپږو سره دوه (سوريتي) او څلور (فوت شوي) جمع کړو نو دولس او کهٔ درې او پنځهٔ نو څوارلس جوړيږي. نـامې صـرف د دريـو ښـودلـې شوې دي. خو په ص ۲۶۲ مونږ لولو چې "د بهرام بـدفـرجـام .... حـکـيـم، ښـادي د فيروز زامن" الخ نو قياسيږي چې دا هم د هغهٔ فيروز خان (د خـوشـحـال بـابـا د تـرهٔ) زامـن دي چـې پـه ص ۲۲۲ ئې د اولاد ذکر شوے دے. بيا مونږ پـه ص ۲۶۹ لـولـو چـې بهـرام بـدفـرجام د حکيم د ښادي ضياء الدين پورې تر سينده په تباه حال نـاسـت وهٔ". هـر کـله چې تاريخ مرصع کښې د اضافت تورے "د" ډير خلې (لکه د فارسي) د ابـنيـت د عـلامت دپاره پکارولے شوے دے (مثال دپاره وګورئ ص۲۱۷) نو په ص ۲۶۹ "د حـکـيـم د ښـادي" نـه دا ګمان کيدے شي چې ګوندې حکيم د ښادي زوے وهٔ خو د ص ۲۶۲ واضـح عـبـارت نظر د وړاندې به دا خبره ځائے نهٔ لري نو بايد چې عبارت داسې ولوست شي: "بهرام بدفرجام د حکيم او د ښادي او ضياء الدين وغيره" الخ.
۷. د خـوشحال بابا د قرانونو د بيان په لړ کښې په ص ۲۳۶ د مهم د ذکر په آخر کښې مؤلف وائـي چـې "پـه خپـل ياد خان عليين مکان سل بلکه زيات جنګونه ليدلي وو لکه دا جنګ وهٔ هـسـې بـل جـنګ سخت ورباندې راغلے نهٔ وهٔ. مګر يو دوه ځايه چې هم ډير سخت کار پيښ وهٔ. حق تعالیٰ په خپل فضل و کرم پرې آسان کړ. نقل کا چې علم او قلم او شعر د پښتو پخوا تـر دهٔ پـه دا قبيـلـه کښـې نـهٔ وهٔ. دا ئـې په کمال ورسول. اګر چې دا کمال ته نهٔ رسي. موافق استعداد. دوئم دا چې شهباز خان د تيراه په مهم راغـے". الخ . د عبارت بې ربطي جوته ده.
۸. "شهـبـاز خـان ډيـر متـدين وهٔ...... دواړه چې شهباز خان په اجاره واخست هومره خدمت ئي د مغل وکړ چې دا دواړه ئي په انعام کښې بيا موندل. سالها د دهٔ عمل په کښې وهٔ. ختک د دهٔ پـه طفيل د مغلو د ښنګښو له تکليفه تر اوسه چې سن زر سل درويشت دے خلاص شول. هـومـره قـابـل وهٔ چـې مـغـل د دهٔ قـابـليت وته حيران وهٔ. چې د مغل خدمت ئي کاوه دا هسې خـدمـت بـل چـا نهٔ کاوهٔ. چې له مغل آزرده شهٔ. بيګناه ئي آزار بيا موند. د کابل صوبه په مغل اور شوه. نور ئي نوکري د مغل ترکه کړه. تر مرګه پورې ئي ...... نهٔ کړه". د عبارت نيمګړتيا ښکاره ده. شهباز خان خو تر آخره وخته پورې د مغل نوکر وهٔ. او هم د مغل خدمت کوونکے پـه جـنګ کښـې د مـنـدنـو له لاسه ژوبل او څو ورځې پس وفات شو. نهٔ چرې له مغل آزرده

شوے او نۀ ئي تري آزار مونـدلے وۀ. نۀ ئې کله مندنو سره خپل اخري جنگ نه وړومبے د معلوم تاريخي شهادت له رويه د مغل نوکري ترکه کړې وه. او نۀ خو ئې د لاسه د کابل صوبه په مغل اور شوې وه. دا ځۀ او وروسته بيان شوي د يوسفزيو سره جنگونه او متعلقې خبرې د خوشحال بابا د ژوند له سوانحو دي.

۹ "نور خان جنت نښان له ډيره لنبکره سره په گنبت........ په ډيره ورشئ ما پريږدئ. ملک ميري په بالاحصار کښې خپلو سورو سره بند وۀ". په ن ا کښې عبارت (چې زمونږ په چاپ کتاب کښې بعينه هم هغه نقل شوے دے) سره د دې چې د نيمگړتيا احساس ئې نۀ کيږي څخو نيمگړې دے. د ن ب عبارت مکمل او دغه شان دے: "نور خان جنت نښان له ډيره لنبکره سره په گنبت ورغے. بعضو بنگښو، آفريديو، ورک زيو چې مغلي وو په طريق د معرکې خان جنت مکان ته راغلل او د شريف په باغ کښې وې وئيل چې ملک ميري په مونږ غلبه وکړه زمونږ کار نۀ شي. اوس رو پرې وار جوړ دے. راځه چې قتل ئې کړو خان جنت مکان وفرمائيل تاسو خپلې مورچې پريږدئ. په ډيره ورشئ. دې ما سره پريږدئ. ملک ميري په بالاحصار کښې له خپلو سړو سره قلا بند وۀ" اوس رو وار پرې جوړ دے. هم معنٰي بښدي خو گوندې داسې وي: اوس ترو پرې وار جوړ دے. "ترو" د پښتو په زړو آثارو کښې اکثر د "نو" په معنٰي کښې راغلے دے.

۱۰ ص۳۰۶ "د معالجې دپاره ښهر ته د آزاد خان نيايه کره ورغلم" ص۳۹۸ "کورونه مې هم له جنيا کوړه پښاور ته راوستل. د آزاد خان نيايه کره مې مکان ونيوۀ. سکندر خان او عبدالرحمٰن پندو کلي ته کډو سره راغلل" آزاد خان د مؤلف د يوۀ ترۀ نوم هم وۀ. (وگورئ ص۲۲۰ او ص۴۰۲) خو دلته د التباس ځۀ گنجائش نشته. مؤلف احتياط او وضاحت کړے دے. او دواړه ځايه (ص۳۰۶ او ص۳۹۸) آزاد خان خپل نيايه (ماما) بللے دے. خو په ص۳۹۸ د متعلق ځائے د لوستلو په وخت د سکندر خان او عبدالرحمٰن (د مولف د ترونو) نامو سره د آزاد خان د نوم له قبله زما ذهن کښې ځۀ شخړه پيدا شوه. لفظ نيايه مې له پامه وښوئيد او نوټ۳ ص۳۹۸ کښې مې وليکل چې آزاد خان، سکندر خان او عبدالرحمان د خوشحال بابا د زامنو نامې دي. حال دا چې کۀ هر څو دا صحيح وي دلته لکه چې بايد ښکاره وي د آزاد خان نه مراد د خوشحال بابا زوے د مؤلف ترۀ نه بلکه ماما ئې دے. د مؤلف والده عبدالعزيز خيله ورکزی وه او د پېښور ښهر هغې برخې ته به ئې چې ورکزي پکښې وسيدل هغه وخت ورکزي کورونه وئيل او غالباً هم دغه آبادي ده چې اوس ورته بالا ماني وائي. چې علاوه له نورو ورکزيو عبدالعزيز خيل هم پکښې شته. دلته به دا عرض کول هم ضروري وي.

چې د ص۳۸۷ د نوټونو نه پس د صفحې ګڼه ۳۸۸ نه بلکې ۳۹۸ ده. دغه ځائے ۳۸۸ زمایا د بناغلي کاتب سهو دے.

۱۱. ص ۳۸۹ "چون قدم مبارک آن مورث النبی درمیانست". الـخ پـه اصـل کـښـې حـرکـات نښتـه د "مـورث" پـه 'ر' مـا د فـتـحـې (زور) عـلامـت ولګولو. چې هسې نه شوک ئې د 'ر' په کسرې (زیـر) ولولي. د علماؤ مورث سرور کائنات ﷺ دي او علماؤ د هغو مبارکو ﷺ وارثان دي. نـو آسانه خو به دا وه چې مکتوب الیه ته وارث النبي ولیل شوي وے. خو هر کله چې مؤلف د وارث پـه ځـائے مورث استعمال کړے دے نو یا خو به ئې مورث او یا مُوَرِّث مراد وُه یعني چې مـکـتـوب الیـه تـه د حـکـومـت یـا د عوامو د طرف نه هم د رسول مقبول ﷺ د نیابت فرائض تـفـویض شوي او د هغو مبارکو وارث جوړ کړلے شوے دے. او یا ئې دا مطلب وُه چې مکتوب الیـه "مورث میراث النبي ﷺ" خلقو ته رسوونکے د نبي ﷺ د میراث یعني هم پخپله د هغو مبـارکـو ﷺ د عـلـم وارث او هـم د هغوي ﷺ دغه ترکه او میراث خلقو ته رسوونکے دے. والله اعلم بالصواب.

۱۲. ص ۱۲۸٦ او هغه طبیله په نامه د جلهوره وارد شهرت موندلے دے". که چا اصل فارسي عبـارت نـهٔ وي لـوستے نو ګوندې وګڼي چې "وارد" یو توړے او جلهوره پورې تړلے یا ورسره مـرکـب دے. او نامه چې هغې طبیلې پرې شهرت بیا موندلے وهٔ جلهوره وارد وه. خو د عبارت مـطـلـب دا دے چې هغې طبیلې د شهرت وار (یا نوبت) د جلهوره په نامې بیا موندلے وهٔ. یا د شهـرت وار او نـوبـت نـې د جـلـهـوره پـه نـامې راغلے وهٔ. د تاریخ خان جهاني مخزن افغاني د فـارسي نـسـخـې عبارت داسې دے: "وآنجا طویله عمارت کردند۔ می گویند ہمان طویله است وبه طویله اسپان جہاورہ اشتہار وارد"۔ (جلد ۲ ص ۷۸۸).

د ډورن د انـګـریـزي ترجمې مطلب هم د فارسي عبارت او زما د تشریح مطابق دے. (حصه ۲ ص ۳۱۰).

۱۳. ص ۱۲۸۸ "نقل دے چې ودم زوے د چار زوے د سربن وهٔ". الخ. نامې داسې پکار دي: نـقل دے چې ودم زوے د چار چې زوے د شیراني وهٔ" الخ (وګورئ د خپل کتاب ص ۴۵۰ او تـاریـخ خان جهاني مخزن افغاني جلد ۲ ص ۵۵۴ "حق سبحانہ تعالیٰ شیرانی را یک فرزند رشید کرامت نمود او راچار نام نهاد او از چار سه فرزند به وجود آمد۔ ذکر در بیان اولاد چار بن شیرانی، از چار سه پسر موجود شده بود اول ودم۔ دوم جلوانی، سوم ہریپال" الخ.

۱۴. ص ۱۳۲۲. "... مرحومي میر منصور" الخ. (قلمي عبارت) "مرحوم میر منصور" (چاپ عبارت). غالباً چې "مخدومي میر منصور" یا مخدوم میر منصور" به وي. وګورئ ص ۱۳۲۵

"مخدوم ابوالفرح". والله اعلم بالصواب.

۱۵. بیا د بعضې انساب ص ۴۴۹ تر ۴۶۶. اګر که په دې ضمن کښې هم ما په متن ځۀ نوټونه لیکلي دي خو د انسابو په نومونو او تفصیلاتو کښې د بیلو بیلو نسخو له رویه دومره اختلاف دے چې که هر څو زما دا وینا د یوۀ طالب او د یوې قلمي نسخې د مقابله او تصحیح کوونکي د فرض او وظیفې سره سمه نۀ وي زۀ ئې له کولو خودداري او حجاب نۀ محسوسوم چې د دغه ګردو اختلافاتو جاج اخستل او بیانول ئې دلته نۀ صرف ما دپاره بلکه عام قاري لره هم لوئے جنجال او سر خوږے بنکاریدلو. ما به ګوندې زغملے هم وۀ خو هر کله چې د کتاب خورونکي ئې په یوۀ جلد کښې د چاپولو او خورولو فیصله کړې ده نو د کتاب تقطیع او حجم نظر د وړاندې لکه چې په نوټ کښې مې عرض کړے دے د دغو اختلافاتو له بیانولو مې ځان وژغورلو خو بیا مې د نمونې په طور د یو څو نورو اختلافاتو د بنکاره کولو هم فیصله وکړه، چې لاندې بیانیږي:

الف: ص ۴۵۱ "ذکر په بیان د خرشبون د اولاد....."او د کند چې څوئے د خرشبون وۀ دوه زامن وو. غورا او شیخا او د غورا چې زوے د کند وۀ پینځۀ زامن وو. دولت یار، خلیل، متوزے، زیران، جوکن، او دولت یار چې زوے د غورا وۀ دوه فرزندان وو. مهمند او داؤد" الخ. ډورن حصه ۲ ص ۴۳ ایضاً صرف د جوکن په ځائے چوغن. زمونږ په قلمي نسخه کښې د زیران په ځائے میرایه دے. ما د نورو نسخو او د غوریه خیلو د معلومو ځانګو د نومونو په بنا زیران کړو د تاریخ خان جهاني د عبارت حاصل دا دے چې د خرشبون د زوې کند دوه زامن وو. غورے او شیخا یا شیخے د غوري نوم ابراهیم وۀ. خو وائي چې هر کله په غور کښې زیږیدلے وۀ نو دا رنګ ونومړ شو او ځنې وائي چې هغه د خپلو لوړو خویونو او ښو عملونو له رویه جوت او غوره وۀ نو ځکه غورے بلل شو. او هر کله چې د شیخي کار خرخشې (جنجالونه) کول وو نو په شیخي (ځښې) مشهور شو. د غوري یا غورا پینځۀ زامن وو: دولت یار، خلیل، متوزے (حاشیه متوزے)، زیرانه، جوکن، د دولت یار دوه زامن وو مهمند او داؤدزے (جلد ۲ ص ۵۶۶-۵۶۷). بیا د یوې بلې نسخې د اقتباس له رویه د خلیل مور لودنه، د داؤد شلماني او د مومند هزاره مغله وه. هم دا نسخه وائي چې د عوامو د وینا له رویه داؤد او مهمند د خلیل وریرونه وو. خو دا خبره غلطه ده ورونه ئې وو. هر کله چې خلیل په دواړو زورور وۀ نو دوي سره د خپل مال حال او دولت د ژغورنې دپاره ملګرتیا، یاري وکړه نو دولت یار وبلل شول. او دا هم هسې د عوامو غلطه وینا ده چې چمکني (چمکنے یا څمکنے) او زیرانې (زیران) د غوري زامن وو. صحیح خبره دا ده چې په زامنو ئې نیولي وو. (جلد ۲

ص ۸۴۴و ۸۴۵) پـه متعلقه ځائے د ډورن د نوټونو دپاره وګورئ د دويمې حصې د صفحو په تسلسل کښې ص ۱۲۴

ب: ص ۴۵۱، ۴۵۲ "او مهـمـنـد چې زوے د دولت يار وۀ يوولس زهمن وو يعقوب، کالا، حسن، مـلهي، عمر، مندو، نزل، شے زے، او اووۀ زهمن له بي بي دويه چې خور د شيخ مهلي قتـال وه تـولـد شـول. او دوئ کښې دوه لاولـد پـاتې شول او څلور زهمن له بلې ارتينې چې خـاتونه نوميده پيدا شول. ميار، کوکو، موسيٰ، او د ميار چې زوے د دولت يار وۀ څلور زهمن ". الخ. (د دولت يار د مؤلف سهو دے مهمند مراد دے)

ډورن حـصه ۲ ص ۴۳ : "د مهمند يوولس زامن وو يعقوب، کالا، حسن، مهلي، عمر او مـنـدو دري زامـن ئـې د شيـخ مهـلي قتال له خوره بي بي دويه وشول چې ميار، کوکے، او موسي نوميدل. دوه لاولد پاتې شول. د ميار څلور زامن " الخ.

تـاريخ خان جهاني جلد ۲ ص ۵۲۸ "مهمند ولد دولت يار يازده پسر داشت يعقوب، کالا، حسن، ملهی، (حاشیه مهلی) عمر، مندو۔۔۔۔اين هشت پسراز بی بی دویه (حاشیه بی بی دویه خواهر شیخ ملهی (قتال) بوجود آمدند ازين هشت دو لاولد رفتند و سه پسر از عورتے خاتون نام متولد شدند ميار، کوکے، موسیٰ"۔

زمونږ نسخه تر شي زي پورې د اتو زامنو نامې ورکوي. نزل، اووم، شے زے اتم. دغه دوه نـامې اګر کۀ تاريخ خان جهاني (ن ح) بنئيلي نۀ دي خو په ګنه کښې ئې راوستلي دي. او ونيـلـي ئې دي چې دا اتۀ له بي بي دويه شوي وو. نو بايد چې مونږ د خپلې نسخې (۱) عبارت ".شے زے او اووۀ زهمن له بي بي دويه" الخ داسې ولولو "..... شے زے چې دا زهمن له بي بي دويـه" الخ او يا داسې "... شے زے. دا اتۀ زهمن له بي بي دويه" الخ. د ډورن د نسخې يلتون زمونږ له پښتو نسخې او له تاريخ خان جهاني (ن ح) ښکاره دے. خو وګورئ په ص ۴۳ حصه ۲ د ډورن نـوټـونـه. په نظر د وړاندي ځائے د يوې بلې نسخې (د لي صاحب) په بنا ليکي: " مهـمـنـد ولـد دولـت يار يوولس زامن وو (۱) يعقوب (۲) کالا (۳) ملهي (۴) عمر (۵) مندو (۶) کـونـے (۷) موسي دا د شيخ ملهي قتال له خوره بي بي دويه وشول. له ديو دوه لاولد پاتو شـول. دري زامـن ئـې ميار، کوکے او موسيٰ له بلې ارتينې چې خاتونه نوميده وشول." په خط کشيـده الفاظو ډورن حاشيه ليکي چې د لي صاحب په نسخه کښې دغه الفاظ "دا اتۀ" بريښي خـو دا غـلـطي ده. معلوميږي داسې چې لکه په تاريخ خان جهاني (ن ح) کښې ګنه اتۀ ده خو دوه نـامې يادې شوے نۀ دي نو د لي صاحب نسخه کښې هم له اتو يوه نامه پريښوے شوې ده. د لي صاحب د نسخې په بنا دغه نوټ زمونږ پښتو او فارسي نسخو ته نزدې دے. خو د نومونو اختلاف پاتې کيږي چې له لاندينی مقابلې به جوت شي.

ن ا : يعقوب، کالا، حسن، ملهي، عمر، مندو، نزل، شے زے. (له بي بي دويه)

ن ح: يعقوب، کالا، حسن، ملهي، عمر، مندو، نزل، شے زے (له بي بي دويه)

د ډورن نوټ : يعقوب، کالا، حسن، ملهي، عمر، مندو، کونے، موسي (له بي بي دويه)

ن ا میار، کوکو، موسي (له خاتوني)

ن ح میار، کوکو، موسي (له خاتوني)

د ډورن نوټ میار، کوکو، موسي (له خاتوني)

د لي د نسخې د عبارت نه پس ډورن له خلاصة الانسابه اقتباس کوي: "د مهمند ولد غوري دولس زامن وو (۱) مهيار، چې اولاد ئې مهيار زي ياديږي. (۲) ککو چې اولاد ئې ککو زي بلل شي (۳) موسي چې اولاد ئې موسي زي بلل شي (۴) يعقوب چې اولاد ئې يعقوب زي دي. (۵) مندو چې اولاد ئې مندوزي دي. (۶) کالا چې کالا زي ئې اولاد دے. (۷) حسن چې حسن زي ئې اولاد دے. (۸) عمر چې ترې عمر زي دي. (۹) ملے چې ترې مليزي دي. نور درې بې اولاده پاتو شول. د دريو واړو وروڼو يعني خليل مهمند او داؤد اولاد د پيښور خواؤشا وسيږي." (وګورئ د دويمې حصې د ص ۴۳ نوټونه ص ۱۲۴ په تسلسل د دويمې حصې صفحو).

د ن ح د ص ۵۶۸ حاشيه د خنو نسخو په بنا "۔۔۔۔ذکر در بیان اولاد مہمند بن غوری، مہمند بن غوری رادوازدہ پسر بوجود آمد از دو زوجہ اول مہیار کہ اولا داورا مہیار زی گویند دویم کوکو کہ اولا داورا کوکو زی گویند سیوم موسیٰ کہ اولا داورا موسی زی گویند۔ این سہ پسر از بی بی خاتون بودند این سہ را ختوزی گویند چہارم شیخ یعقوب کہ اولا داورا یعقوب زی گویند۔ پنجم مند ششم کالا کہ اولا داورا کالا زی گویند۔ ہفتم حسن کہ اولا داورا حسن زی گویند۔ ہشتم عمر کہ اولا داورا عمر زی گویند۔ نہم ملی کہ اولا داورا ملے زی گویند۔ و آن سہ پسر دیگر کہ ذکر شان درین رسالہ ننوشت درحین طفولیت وصغر سن ازین عالم سفر کردند۔ این نہ پسر از بطن بی بی دوئی بنت سلیمان دانا۔"

بناغلي لوستونکي به ياد آوري وکړي چې سليمان دانا د شيخ ملهي قتال او د بي بي دويه پلار وۀ. د مهمند له دولسو زامنو د نهو زامنو اولاد په شمول د مندوزي بيانوي. او وائي چې درې نور زامن ئې لاولد پاتو شول. د ن ح حاشيه هم د مهمند په دولسو زامنو کښې درې لاولد يادوي خو د خاتونې د دريو زامنو اولاد هم بنيي. چې په شريکه ختوزي بلل شي. او د بي بي دويه له نهو زامنو د شپږو اولاد هم يادوي. اګر کۀ د مندو د يادولو باوجود ئې ورسره مندوزي نۀ دي ياد کړي خو غالباً چې دا خو يا د قلمي نسخو نقص يا د ناقل سهو دے. د خلاصة الانسابه په اقتباس کښې د بي بي دويه او د خاتونې د اولاد بيلتون نۀ دے ښکاره کړے شوے.

بیا د ن ح حاشیه کښې د "... از بطن بي بي دوئي بنت سلیمان دانا". نه پس فضل محشي وائي "و بعد ازان در نسخه سوسائټي ۲ ۰ ۱ ورق ۱ ٦ ۱ نوشته (پسراحمد جوان مرد پسر سوم متیٰ پسر محمود پسر ابراہیم پسر کچکور پسر سوری پسر سرپال پسر دوم سروانی بن شاه حسین متی تقی بوداایشان رادویزی می گویند) کـــه دا عبـرت هـم د مومند اولاد سره تعلق لرونکے او صحیح وي نو .آیا مطلب دا شو چې دویزي به مومندو کښې وصلیـان دي او پـه اصل کښې متي بیټني دي؟ نه بلکې خبره دا ده چې د مومند دهغو شپږو زامنو اولاد چې د سلیمان دانا له لوره او ملهي قتال له خوره اعني له بي بي دویه وه‌نه به پـه جـمع د مور یا نیا د نامې له رعایته دویزي ونیل خائے لري. لکه چې د خاتونې اولاد د نظر د وړانـدې حـاشیه کښې ختوزے یاد شوے دے. د یادې شوې حاشیې اخري الفاظ نیمګړي لیدهٔ شـي. خـو پـه حـقیقت کښې دا تري د وړومبي اقتباس په تسلسل کښې دي. یعنې یوې نسخه کښـې تر "سلیمان دانا" پورې او بله کښې وړپسې الخ. لکه"... بي بي دویه بنت سلیمان دانا پسر احمد جوانمرد" الخ. له لاندیني شجرې به نور وضاحت وشي.

د قیس اولاد: سړبن، شیخ بیټ، غورغشت.

(۱) د سـړبـن اولاد : شـرخبـون، خرشبون. شیخ اسماعیل (شیخ اسماعیل چې ترهٔ سړبن کره لوئے او په اسماعیل سړبني مشهور شو.

د خرشبون اولاد کند، خمند، کاسي

د کند اولاد: غوري، خښے

د غوري اولاد: خلیل، دولت یار، منو یا متو، څوکن، زیړان.

د خښې اولاد : عمر، یوسف، ترکلانړے، ګګیانړے.

د عمر اولاد : منډڼ (د یوسف زوم)

د دولت یار اولاد : بي بي دویه، مهمند، خاتونه، داؤد.

د بي بي دویه اولاد : دویزي.

د خاتون اولاد ختوزي.

د داؤد اولاد : مامو، امنے، یوسف، مندکے.

(۲) د شیخ بیټ اولاد : شیخ اسماعیل، کجین، ورشپون، بي بي متو د شاه حسین غوري

د بي بي متو اولاد : سروانے، ابراهیم عرف لودي، غلجے.

د سرواني اولاد پلے، سرپال (د حاشې پسر دوم)، سوتے.

د پلي اولاد : سوري، احمد، چغرے.

د سوري اولاد ګکپور (د حاشیې کچکور)، شهباز، هیبت.

د ګکپور اولاد : ابراهيم، سيد، پوپے، الوت، سنکت، ملانا.

د ابراهيم اولاد : محمود، هارون، کزدے.

د محمود اولاد : موسیٰ.

د موسیٰ اولاد   اجو، الو، شيخ احمد جوانمرد ککپور (د حاشيې پسر سوم).

د شيخ احمد اولاد   خدو، ممو، شيخ سليمان دانا.

د شيخ سليمان دانا اولاد   شيخ محمود حاجي، شيخ ملهي قتال، شيخ حسن سرمست، بي بي دويه مهمند، بي بي پياري= شيخ متي (که در عقد نکاح شيخ متي بن شيخ عباس بن شيخ عمر بن خليل بود. (ح حصه ۲)

نوټ (۱) : لکه چې وضاحت شوے دے د يوۀ بل روايت له رويه خليل، داؤد او مهمند د غوري زهمن او سره ورونه دي. خوکن او زيړان غوري په زهمنو اخستي او لوئے کړے وو دغه روايت د غوري هم دغه ياد شوي دي اصلي او دوه وصلي زهمن يادوي. د منو يا متو ذکر نۀ کوي. (ن ح جلد ۲)

نوټ (۲)   د خليل ولد غوري اتۀ زهمن يا بناخونه ساک (زي)، باړه (زي)، ترک (زي)، متے (زي)، تور (زي) انو (زي)، اکا (زي)، سالار (زي)

د بي بي پياري بنت سليمان دانا څښتن شيخ متي هم د خليل ولد غوري د زوي شيخ عمر د زوي شيخ عباس زوے دے.

نو په فارسي حاشيه کښې د متي بتني لفظونه د مومند : اولاد دويزي نه بلکې د سليمان دانا يا سرواني تعريف او تخصيص کوي.

(ج) ص ۴۵۲   او د شيخا چې زوے د کند وۀ څلور زهن وشول ترکلانے، ګګيانے، عمر، يوسف.

ن ح ص ۵۷۵ ''شيخا ولد کندرا چهار پسر بود اول ترکلاني [که اولا داورا ترکلاني گويند] دوم يوسف [که اورا يوسفزي گويند] سوم عمر [که اولا داورا عمرزي گويند] چهارم ګګياني] که که اولا داورا مکه خيل گويند]

''ترکلانې را'' نه مخکښې عبارت نشته او وروستو د يوسف ولد شيخا اولاد بيانيږي البته په ''ترکلانې را'' ليکلے شوے حاشيه ص ۵۷۵ کښې د موسي بن ترکلان د زامنو نامې بيان شوي دي.

ډورن حصه ۲ ص ۴۴ د خښي (شيخا) هم بره ياد شوي څلور زهمن يادوي.

زمونږ په کتاب کښې د دې ځائے نه ډير وړومبے چې د غوري خښي د ليږدې په لړ کښې د دوئ کوم انساب بيان شوي دي د هغو له رويه د خښي د زامنو نامې منډے، مک او

تـرک وړے. ګـکـو یـا ګـکـی د خښـي لـور وه چې خپل شپون زیر کي ته ئې وادهٔ کړې وه. و ګـکیاني د دوئ اولاد دے. او عمر او یوسف د منديږ زهمن وو دغسې د خښي زهمن نه بلکې نـمسـي ئې وو. (وګورئ ص ۱۹۷) دغه انساب لکه چې مؤلف وئیلي دي (ص ۱۹۶) د اخون درویزه په تذکره الابرار والاشرار مبني دي. (وګورئ ص ۸۷ـ۹۸)

(د) د مهیـار د ارتینې نامه وینی لیکلې شوې ده. د تاریخ خان جهاني جلد ۲ ص ۶۱۵) په متن کښې ئې نامه پنې یاده شوې ده. خو په حاشیه کښې ئې د نورو نسخو په حواله نامه په اختلاف پبې، هې او مبـنـې مذکوره ده. ګوندې له ټولو وروستو تورے منی وو. په ډورن حصه ۲ ص ۵۱ کښې بني ده. زمونږ په نسخه (ا) کښې عبارت داسې دے "وائي چې ارتینه د مهپال وینی نـومیـده. (.... وه بسـی نـومیده) او اولاد دې واړه (او اولاد د دې واړه) په نامه د مور شهرت مـونـدلـے دے. او دوئ ته بني وائي. ما بسی او بنی د تاریخ خان جهاني په وینا په پلیټ کښې پنی او پنې کړل. خو په سنګ سازی کښې ترې وینی جوړ کړل شول.

۱. مهپـال د ارتیـنـې او اولاد د ذکـر نـه وړومبے عنوان دے "بیان د مهپال د اولاد چې زوے د اسـمـاعیـل سیـانـي وهٔ." او لـه دې اګـاهو پـه ص ۴۸۷ اسـمـاعیل زوے د سیـاني یـاد شوے دے. تـاریـخ خـان جهاني جلد ۲ ص ۶۱۵ هم دا بیان داسې شروع کوي. "ذکر در بیان مهپال ولـد اسـمـاعیـل بـن سیـاني". نو یا خو په ص ۴۵۸ د ناقل نه د اسماعیل او سیاني تر مینځه "د زوے د" توري پاتې شوي دي او یا زمونږ مؤلف له فارسي اضافت ابني کار اخستے دے.

(هـ) زمـونـږ د کتـاب ص ۴۵۸ کښې چې د پرنکي ولد سیاني کوم اووهٔ زامن یاد شوي دي د هـغـو نـامې په تاریخ خان جهاني (جلد ۲ ص ۴۱۵) کښې داسې راغلي دي: لمر، دیدي، اندړ. ارند، راندي، زیتون، ترغنري. او دا نامې زمونږ د کتاب نامو سره سمون خوري. صرف زمونږ د کتاب رایډ ته راندي وئیلي شوي دي. تاریخ خان جهاني کښې په متعلق ځائے د لیکلې شوې حاشې مطلب دا دے چې ځنو نسخو کښې ئې انهٔ زامن یاد شوي دي چې مشر پکښې ابراهیم د اسحق پلار وهٔ. او د اسحاق دوه زامن وو خواجه او سرک نومیدل. خواجه د عمر او عمر د مـلـک شـاهـو او مـلـک یـوسف پلار وهٔ. د دغه حاشې مضمون زمونږ په کتاب کښې راغلے دے. "او بعضې وائي د پرنکي اووهٔ زامن وو او نوم ئې د مشر زوي ابراهیم". الخ. دغه ځائے د "اووهٔ زامـن" پـه ځـائـے د یـادې شـوې حـاشې له رویه "انهٔ زامن" پکار دي. د ابراهیم دهامې مـعلومیدو سره د اتو زامنو نامې معلومې شولې خو د نهم د نامې ذکر نشته. د پرنکي د اولاد د بیان د شروع کیدو نه وړومبے مونږ په خپل کتاب کښې لولو "د ارنګ چې زوے ئې برنګي وهٔ درې زامن وشول مایان، ملیخ ،حیصور." خو قلمي عبارت داسې دے: د ارنګ چې زوے د

برنګي وه" الخ که مونږ ئې "چې زوئے ئې د برنګي (یا پرنګي) " ولولو نو پرنګي دا رنګ برنګي په اولاد کښې څوک ارنګ نشته. او که "چې زوئے پرنګي (یا پرنګي) " نو پرنګے د ارنګ نه بلکې د سیاني زوے یاد شوے دے . او که دا ووایو چې ګوندې د ارنګ نه مراد د پرنګي زوے آرند یا ارند وي نو ګرانه دا ده چې د پرنګي د اولاد ذکر خو د دې جملې (له "دا رنګ تر خیصور") نه وروستو شروع کیږي بله دا چې دا جمله نۀ خو په تاریخ خان جهاني کښې او نۀ په ډورن کښې شته.

(۱) ص ۴۵۹ " او د ملک یوسف دوه ارتینې وے . یوه له قبیلې د جام وه او بله لور د کاکړ وه اسو نومیده. له لوره د جام درې زامن وشول خیرو، انجا، مانا او اولاد د مانا پینځۀ تپې دے چې په بجواره کښې متوطن دے . او نواب خان جهان له نسله د دوي دے ....اولاد د تاجي او چر کم دے

تاریخ خان جهاني جلد ۲ ص ۱ ۲ ۶ "ملک یوسف دوزن داشت ـ یکے دختر جام ولد نیازی بود وزن دوم دختر کاکڑ بہ اسم اسو" ـ جمله هم دغه شان ختمه شوې ده. بیا "ملک یوسف را از زن قوم نیازی سہ پسر بہ وجود آمد ـ اول بائی خیل، دوم تاجی خیل، سوم نسو خیل ـ واز زن قوم کاکڑ نیز سہ پسر شد ـ اول خیرو، دوم مانی، سوم انجی" او په حاشیه کښې د مخزن (یعنې مخزن افغاني) په حواله د "اشو" په ځائے (لکه زمونږ د نسخې) "اسو" او د "خیرو" په ځائے "چرو" لیکلي دي. د مانا د پینځو تپو بیان زمونږ د پښتو نسخې مطابق دے.

خو زمونږ نسخه مانا یا مانے د جام د لور او تاریخ خان جهاني ئې د اسو یا اشو کاکړې له اولاده بولي. زمونږ نسخه خیرو یو ځل هم خیرو خو بل ځل چرو یادوي. زمونږ نسخه د "تاجي خیل" ذکر لکه چې تاسو د تاریخ خان جهاني په برني اقتباس کښې ولید نۀ کوي خو وائي چې "اولاد د تاجي او د چر کم دے (د تاجي نه تاجي خیل او د چر نه خیرو یا چرو مراد دے) تاریخ خان جهاني د اولاد د کمي نسبت صرف خیرو ته لري. "اولاد خیرو بسیار کم است" او فوراً ورپسې د مانې یا مانا د اولاد او احفاد د پینځو تپو ذکر کوي. او وائي چې: "و نواب معلي القاب خان جهان لودي از نسل خیرو است". (جلد ۲ ص ۲۱۷) الخ. یعنې نواب معلیٰ القاب خان جهان لودي د خیرو له نسله دے" ډورن (حصه ۲ ص ۱ ۵) هم نواب خان جهان د چرو (یا خیرو) له اولاده یادوي. خو عجیبه دا چې ورته "ملک احمد المشتهر به خان جهان" وائي. ("ملک احمد کالدِ خانِ جهان") حال دا چې د نواب نامه پیر خان وه چې د دولت خان بن عمر خان بن دولت خان بن ملک احمد زوے وۀ. حاصل دا چې لکه ووئیل شول تاریخ خان جهاني او زمونږ نسخه خو په دې خبره اتفاق کوي چې د مانا پینځۀ تپې دي خو زمونږ نسخه نواب خان جهان دوي له مانا او تاریخ خان جهاني ئې (او

ډورن هـم) لـه خيرو يا چرو يادوي. د تاريخ خان جهاني اصل عبارت: ''اولاد خیر و بسیار کم است واولاد و احفاد مانی بن ملک یوسف پنج سپه در بجواره متوطن اند، ونواب معلی القاب خان جہان لودی از نسل خیر و است وگویند که دوسه خانه وارش نیستند.'' (جلـد ۲ ص ۲۱۶ و ۲۱۷). خـو د كتـاب په آخر كښې له شجرو چې كومه په ص ۹۰۲ درج ده هـورې د مـانـي د نامې لاندې ليكلي دي: ''اولادش خان جهان لودي'' ډورن هم لکه د تـاريخ خـان جهـانـي چـرو (خيـرو) اجي(انجا) او مانړے (يا مانا) د اسو كاكړې زامن يادوي د تـاريخ خـان جهـانـي او د ډورن عبـارت د انجا دوي د مور په حقله صحيح ښكاري خكه چې زمونـږ نسـخه سره د دې چې يو خل خيرو، انجا او مانا د جام نيازي د لور زامن ونبيي نو دويم خل (څو كرښې پس ته) وائي: ''او له لوره د جام درې زامن وشول. تونسو او بل تاجدين او بل مـلـك پهـو''. ډورن: د نيـازي د لـور دوه زامـن وو تسـو تـاج الـديـن او مـلـك بهـو. (حـصـه ۲ ص ۵۱). ډورن تسـو تـاج الـديـن يو نوم گڼلے دے. زمونږ د نسخې تونسو، تاجلين (چې ورومبے لكه چې تاسو ولوستل تاجے بلل شوے دے) او ملک پهو د تاريخ خان جهاني نسو خيل، تاجي خيل او بائي خيل (۲ ص ۲۱۶) يا ملک پاني يا ملک بپو (۲ ص ۲۱۷) دي.

(ز) ص ۴۶۰ ''او له ابوالفرج درې زامن پاتو شول. يونس، شهباز او سرمد او د يونس دوه زامـن وشول. او د يوسف چې زوے د ابوالفرج وۀ دوه فرزندان وشول اسماعيل او اوچا. او د اسـماعيل څلور زامن وشول. نورے، مخاورے، هدو، استوا. او د سام درې زامن وشول''. الخ (متـاسـفـانه په چاپ كتاب كښې ورستى جمله غلطه داسې چاپ شوې ده. ''او سام او د زامن وشـول'') . پـه اصـل پښتـو كښـې ''او د يوسف چې زوے د ابوالفرح وۀ دوه فرزندان وشول'' جمله غلطه ده. ورومبے ترې د ابوالفرح د زوي يونس دوه زامن كيدل بيان شوي دي. هر كله چې د ابوالفرح درې زامن (يونس، شهباز او سرمد) ياد شوي دي. نو يونس او يوسف كښې ير زيـاتـي دے. تـاريـخ خـان جهـانـي (۲ ص ۲۲۰) او ډورن (۲ ص ۵۲) د ابـوالفرح د زامنو نامې يونس، شهباز او سرمير يادوي. او بيا وائي چې د يوسف چې زوے د يونس وۀ دوه زامن وشول اسـمـاعـيـل او اچـا. نـو زمـونـږ د كـتـاب پـه هـغـه جمله كښې چې مونږ ورته غلطه ووې كۀ د ابـوالفرح په خائے ''يونس'' ولولو نو غلطي به رفع شي. خو بيا به هم عبارت نيمگړې وي خكه چې داسې به بغير د يونس د زامنو ښئيلو ناساپې د يوۀ زوے يوسف د اولاد ذكر شروع شي. نو بـايـد چـې مـونـږ د خپل كتاب عبارت داسې ولولو: ''او له ابوالفرح درې فرزندان پاتو شول. يـونـس، شهبـاز او سـرمـد. او د يـونـس دوه زامن وشول يوسف او متا او د يوسف چې زوے د يـونـس وۀ هـم دوه زامـن وشـول. اسـماعيل او اوچا''. يوسف د ابوالفرح زوے نه بلكه نمسے دے.

د ډورن او ن ح د بیان له رویه د اسماعیل بن یوسف پینځهٔ زامن وو. ډورن ئې د زامنو نامې داسې یادوي. لوزے، مجازے، هدو، استوزے، او سام، تاریخ خان جهاني (ن ح) وائي چې دوه ارتینې ئې وے. یوه بي بي (یا بیبي. حاشیه) چې د هدو استوزي. او سام مور وه. او بله د تورزي او مجازي مور وه. د ډورن لوزے او مجازے په ترتیب د ن ح تورزے او مجازے دي. ما هم د تاریخ خان جهاني په بنا لکه چې ئې په چاپ کتاب کښې ګورئ د پښتو د عبارت نورے او مخاورے او استوا. تورزے. مجازے او استوزے کړل.

بیا هم په مخ ۴۶۰ مونږ په ن ا کښې لولو: "ذکر په بیان د سرمرد د اولاد. سرپال چې زوے د سرواني وهٔ درې زامن وشول". دلته ما سرمرد لکه چې په چاپ کتاب کښې لیدهٔ شي سرمیر کړ لکه زمونږ په کتاب کښې ئې چې د سرمرد یا سرمیر د اولاد بیان او تفصیل نشته. د تاریخ خان جهاني (۲ص ۴۲۲) او ډورن (۲ص ۵۲) هم دغه حال دے بلکه ډورن دا الفاظ "ذکر په بیان د سرمیر د اولاد" هډو لري نه. علاوه له دې چې د سرپال د اولاد ذکر شروع کوي نو د سرپال بن سرواني په ځائے سرپال بن سربني لیکي.

(ح) ص ۴۶۲ "ذکر په بیان د کرلاني او د بعضو قومونو چې داخل په دا سلسله دي. دا رنګ وائي چې دوه تنه اورمړ صحرا ته لاړ وو...............د هغه هلک نوم ئې کرلانے کیښو " الخ. وګورئ د دې ضمیمې نمبر۵ او د کتاب ص۲۱۷ دلته خو (په ص ۴۶۲) دوه تنه د اورمړ یاد شوي دي. خو وړومبے (ص۲۱۷) اورمړ او ورور ئې هونے پخپله یاد شوي دي. په ص ۴۶۲ چې څهٔ رنګ قصه بیان شوې ده له رویه ئې موندلے شوے هلک مجهول النسب دے او د ص۲۱۷ د بیان له رویه. د اورمړ د ورور هوني زوے دے

تاریخ خان جهاني واقعه داسې بیانوي: نقلست که دو کس از قبیله اورمر بصحرا برآمده بودند۔ [یکے عبدالله دوم زکریا نام] بجائے رسیدند که لشکرے درآنجا شب فرود آمده وعلی الصباح کوچ کرده رفته بود { از قضائے الٰهی عبدالله } سطل آهنی { درآنجا } افتاده یافت و [زکریا] پسرے که همان شب متولد شده بود [یافت] {(واز اتفاقات حسنه آن)} [عبدالله] که سطل [آهنی] یافت بود۔ فرزند داشت وآن [زکریا] که پسر یافته بود فرزندان بسیار داشت {(امابه قوت لایموت عاجز بود)}۔ چون هردواز [یک طائفه و] یک قبیله وخویش یکدیگر بودند، عبدالله به زکریا گفت {(که اے برادر تو می دانی)} که مرا فرزند نیست واز ین دولت بے نصیبم ۔ اگر این پسر را به من مرحمت فرمائی من او را بفرزندی پرورش نمایم و نام من از ین پسر در عالم بماند، غایت لطف وکرم تو باشد و موجب ممنونیت و احسان خواهد بود و تا زنده باشم مرهون اخلاص تو خواهم بود۔ و این سطل آهنی از من بگیر تا چند روز وجه کفاف تو شود و پسر را به من بده [زکریا هم چنان کرد و بجهت خاطر او پسر را به عبدالله داد] وسطل [آهنی] را به معاوضه ((او خود)) گرفت ۔ چون به زبان پشتو [افغانی] سطل آهنی را کراهی می گویند آن مرد به همان مناسبت مبادله آن پسر را کررانی نام نهاد [و به منزل خود آورد] و بفرزندی کلال کرد"۔

( ) د رامپور سټیټ (رضا) لائبریری نسخه.

[ ]　　د بانکي پور خدا بخش لائبریری نسخه.

{ }　　د ایشیاټک سوسائټی کلکته لائبریری نسخه ۱۰۰

(( ))　　د ایشیاټک سوسائټی کلکته لائبریری نسخه ۱۰۱

خو که له دیو نسخو شوې خانه پرې حذف هم کړے شي نو د عبارت تسلسل کښې فرق نهٔ راځي البته ځنې تفصیلات چې پکښې د اهمو کسانو نامې دي پاتې کیږي. د ډورن د کتاب په متن (د متن ترجمې) کښې (۲ ص ۵۴-۵۵) دا قصه د سره شته نه. البته په طور د نوټ دغه قصه بیان شوې ده (وګورئ ص ۱۲۹ ۱۳۰ په تسلسل د دویمې حصې د صفحو) خو دغه تفصیلات چې په لیدو کښې راغلي دي نهٔ لري. ډورن په نوټ کښې په فارسي عبرت کښې د هغه کالي د نامې ترجمه چې کرلانړے ئې په سبب معروف شهٔ "ایکس" کړې ده چې انګریزی کښې "تبر" ته وائي. هغه لیکي چې پښتو کښې آئرن ایکس (د اوسپنې تبر) ته کړے وائي. فارسي عبارت کښې لکه چې په تاریخ خان جهاني کښې راغلے دے متعلق لفظ "سطل" (عربي) دے چې د تانبې داسې لوښي ته وائي چې دسته یا دستې ورته لګیدلي وي.

له تفصیلاتو نظر اړولے د فارسي عبارت هم دغه مطلب دے لکه چې زمونږ پښتو عبارت (ص ۳۶۲) ئې لري، پاتې شوې دا خبرې چې د واقعې دغه دوه کسان اورمړ او وړور ئې هونے (لکه چې زمونږ د کتاب په ص ۲۱۷ یاد شوي دي) پخپله رو او کهٔ د اورمړ قبیلې څوک دوه کسان مثلاً زکریا او عبدالله او دا چې مونډلے شوے هلک د هوني زوے وهٔ. او کهٔ بل څوک سره مختلفې دي خو وګورئ د خپل کتاب نوټ ص ۴۴۹ چې د اورمړ اصل نوم بل څهٔ وهٔ. او تاریخ خان جهاني د "بفرزندي کلان کرد" نه پس وائي: "چون بہ سن رشد وتمیز رسید صبیہ زقبیلہ دور حبالہ عقد اودر آ ورد واز آن اولاد بسیار شد چنانچہ مرقوم می گردد بدین تفصیل۔"

[((ذکر))] در بیان اولاد کرراني [پسر خوانده عبدالله اورمړ]....... الخ اګر کهٔ د عبدالله اورمړ نه مراد د اورمړ قبیلې یو سړے عبدالله هم کیدے شي او عبدالله مشهور په اورمړ هم، وګورئ ن ح جلد ۲ ص ۶۴۰ د ډورن نوټ ص ۱۲۲ په تسلسل د دویمې حصې د صفحو. د ډورن د نوټ د هغې برخې نه چې په ریاض المحبت مبني دے لیدهٔ شي چې د اورمړ اصلي نامه دغه نهٔ وه بلکه عرف ئې وهٔ. نو کهٔ مونږ دا وګنو چې عبدالله هم اورمړ پخپله وهٔ چې سره د خپل بل ملګري زکریا ئې هلک مونډلے وهٔ. نو د دې وینا څهٔ مطلب چې دوه نه د اورمړ قبیلې الخ. د اورمړ قبیله خو به له اورمړه که نامه ئې عبدالله کهٔ هر څهٔ وه روانیدهٔ. بیا د خپل کتاب په ص ۲۱۷ مونږ ولوستل چې د هوني وړور اورمړ چې لاولده وهٔ ورک هلک پسې چې د هوني زوے وهٔ ووت. او په ص ۳۶۲ (د خپل کتاب) مونږ لولو چې د کرلاني دوه

زامن کودے او ککے وو او د کودي اووۀ زامن موسي زے، آهنے (هونے) وغیره وو..ن ح (۲/ص ۶۴۰) " کودے بن کررانی ماعقب پسر به وجود آمد از دو زوجه۔ اول اتمان، دوم دلازاک، سوم وردک، این سه پسر از مادر علیحده بودند، چهارم مانے، پنجم خوکے که اولاداو مشهور به خوگیان شده۔ ششم خٹک، هفتم منگلی، این چهار پسر مادر علیحده دارند"۔ حاشیه ۔۔۔۔"کودے شش پسر بوجود آمد موسیٰ زئی۔ هونے۔ منگلی، دلهزاق، اتوزئی و وردک اگر چه" الخ دغه شان هونے د اورمړ ورور نه بلکه د هغۀ د متبنیٰ کرلاني د زوي کودي زوے وۀ.

(ط) ص ۴۶۵. ۴۶۶ "دا قومونه په قومونو کښې د پښتنو سیدان دي. بختیار او اشترالي په قوم کښې د شیراني او مشواني په قوم کښې د کاکړ او هني او وردک په قوم کښې د کرلاني او خوندي په قوم کښې د داوي او سید زي په قوم کښې د لزین او خرسین په قوم کښې د میاني او کونړے په قوم کښې د بتي." ډورن هم لکه زمونږ د نسخې په کاکړو کښې صرف مشواني سیدان یادوي خو په خلاف زمونږ د نسخې په شیرانیو کښې صرف اشتراني سیدان بولي او بختیار نې پرېښې دي. (حصه۲ ص۵۶و۵۷). مونږ په کاکړو کښې د مشوانیو سره په طور د تارنو اضافه په طور د سیدانو د تاریخ خان جهاني (جلد۲ ص۶۴۸ چې د نورو نسخو حواله هم ورکوي) په بنا وکړه. تاریخ خان جهاني په متن کښې سراني او تارن یادوي خو سراني د نورو نسخو په بنا حاشیه کښې مسواني او مشواني بنیي. زمونږ د نسخې کونړے د تاریخ خان جهاني په متن کښې متي دے. خو د نورو نسخو په حواله په حاشیه کښې کوتے نوملے شوے دے. ډورن نې هم کوتے بولي. تاریخ خان جهاني مهمندزي هم په سیدانو کښې شمیري.   و محمدزئ در قوم زمند" الخ د زمند د تخصیص نه جوته شوه چې له محمد زو هم د پیښور د اشنغر مهمندزي مراد دي.

(ي) او له تیره خایه اگاهو ص ۴۶۲ ن ا "او دلا زاک چې زوے د کودي وۀ دوه زامن وشول مند خیل، بیخي زے، وتک عمر خیل او یعقوب د لودي اووۀ فرزندان". الخ.

چاپ:. "د دلا زاک چې زوے د کودي وۀ دوه زامن وشول. بیخي زے، وتکزے، عمر خیل او یعقوب د لودي اووۀ فرزندان". الخ

تصحیح مط ن ح جلد۲ ص ۶۴۱ "د دلازاک ولد کودي ولد کرلاني دوه زامن وشول. اول لوړے دویم یعقوب، د لودي ولد دلازاک څلور زامن وشول اول امند خیل، دویم بیخي زے، دریم وتکزے، څلورم عمرخیل، د یعقوب ولد دلازاک اووۀ زامن وشول". الخ

او ن ا د اوو فرزندانو په ځائے لکه چې په کتاب کښې درج دي صرف پینځۀ یادوي: مندرزے، مستي زے، خذرزے، یسین خیل او ماني زے.

ن ح: مندے زے (یا میدي خیل یا مندرزے)، امي زے، سني زے، متے زے، حیدرزے،

يسين خيل، ماني زے.

(۱۵) ص ۴۱۳ "تر مانکي پورې يک جلب پلي سوارۀ په تيښته ولاړل". دلته اګر کۀ عبارت کښې څۀ نقص نشته خو د ختکو د مانړ کي شريف (تحصيل نوښهر ضلع پيښور) د شهرت په وجه ذهن هغه خوا منتقل شو او متعلق نوټ هم د هغه کلي په حقله وليکلے شو. د نظر د وړاندې عبارت کښې ترې مخکښې او وروستو ترې هم د يوسفزي، مندڼ او د دوي د علاقې د مشهور کلي مرغز لـه ذکره بايد چې اندازه شوے وے چې د بحث لاندې کلے د پيښور ضلعې د نوښهر تحصيل د ختکو کلے "مانړ کي نه بلکه د يوسف، مندڼ د علاقه "مانکی ده چې د مردان ضلعې په صوابی تحصيل کښې او هم د دغه تحصيل د مشهور کلي توروډهير نه قطب خاتيز ته تقريبا دوه درې ميله ده.

ضميمه(۵)
د څنو لغاتو تشريح

اګر کۀ په نوټونو کښې د ګڼو داسې الفاظو چې د عام قاري دپاره پرې پوهيدل ګران وګڼل شول معنې ورکړې شوي دي. خو علاوه له دغو داسې توري په کتاب کښې نور هم ډير دي چې د عام قاري دپاره اغلب چې ناآشنا وي نو له هغو د څنو معنې لاندې ورکړل کيږي.

آذوقه: خوراک، غذا، لږ خوراک، راشن.

آش: خوراک، ښوروا، د پخلي څيزونه.

آشتي: روغه، صلح، دوستي.

آمد[آمد و دخل]: آمدن، ګټه.

آقاسي: د ديوان خانې مهتمم يا داروغه.

ابطال: جمع د بطل، ميړني، بهادران، توريالي.

ادرارات: وظيفې، تنخواه ګانې، روزينې، ماهيانې، ساليانې.

احدي: د وچت حيثيت او زياتې تنخواه سپاهي، د خاصې درجې او رعايت وړ سپاهي.

احيا: د حي جمع، ژوندي خلق، قبيلې.

احياناً: کله کله، اتفاقاً، ګوندي.

ارادہ: [سلسله د ارادې] عقيدت، عزت، احترام، ارادت، مريدي.

اُلکه [يا اُلکا]: مزکه، پرګنه، ملک، علاقه.

بخشي: تنخواه ویشونکے عهده دار.
بردګي: مرئیتوب، غلامي.
برسات : هندوستان کښې د بارانۀ موسم، د هاړ له وروستی نیمائي د بادرو تر وړومبی نیمائي.
برګستوان: د آس زغرې.
بکاول: پخوونکے، پخلے کوونکے، آشپز، باورچي.
بیګلر بیګي: سپه سالار، لوئے فوځي افسر، لوئے عهده دار
پاتري [پاتر]: پاتر لفظ هم مونث دے. رقاصه، ګډېدونکې ښځه، ډمه، کنجری.
پالکي: یو راز د سورلي کالي چې له بره پوښلے وي او دوه یا زیات کسان ئې په اوږو وچت کړے وړي.
پټ سپاهي: سر تر پایه مسلح.
پورب: خاتیز، مشرق.
تـلـتـهي. [ص ۲۳٦ صحیح لفظ تَلَیتهي دے] دامن کوه، کوه دامن، ویخ، نواح، اطراف، خواؤشا.
جزائر [یا جزائل]: لوئے توپک.
جمدَهر: یو راز نیغه چاړهٔ چې دواړه لوریه تیره وي. پښتو جندر یا جمدر، فارسي جمدر
جوګي: تارک الدنیا، راهب، درویش، فقیر
جهروکه دریچه، تنبړې، د بادشاه یا راجا د سیر کولو او رعایا ته د ځان ښنیلو، درشن (دیدار) ورکولو دپاره د ناستے ځائے
چلقت: [ص ٦۴۳ نوټ ۱] چلقب او چلقد هم [غیاث اللغات، فیروز اللغات او مجمع اللغات]
حقه : له لاسه د ویشتلو، ګزارولو د دارو (بارودو) کوپی، هینډ ګرنیډ [مآثر عالمګیري د انګریزی ترجمې فرهنګ]
خانه زاد: کور زیږیدلے یعنې مرئے، نوکر، موروثي خدمتګار.
خفت: سپکاوے، ملامتیا.
داه: وینځه، خدمتګاره.
دُهدُهکي: اګر کۀ سر جدوناتهـ سرکار ئې معنیٰ په سینه د اچولو یو پسول کړې ده [د مآثر عالمګیري د انګریزي ترجمې فرهنګ] خو لکه چې زمونږ د کتاب له عبارته [ص ۴۰۷] هم

ښکاري او نسیم اللغات (اردو) هم وائي [وګوري ډګډګي او ډهکډګي] یو قسم د غاړې پسول دے.

ډومني: ډمه، کنجري، مذکر ډوم.

رسیدل: [مشر وروړ زمونږ فرید دے. ښو دے شته مونږ ته نهٔ رسي چې نوم د سرداری په خان ولاړ کړو] ښائیدل، مونږ لره نهٔ ښائي، رالره مناسب نهٔ دي.

روستائي: باندېسي. ناپوهه.

زمیندار: د زمکې، ډیرې مزکې، لوئے ملک او جائیداد مالک یا قابض، جاګیردار، رالي ریاست.

سرژه: د غرخهٔ ښخینه.

سُفره: [عربي تورے دے] دسترخوان، خو فارسی کښې د التباس نه د بچ کیدو دپاره د سین په زور (فتحه) وئیل کیږي.

سنګ باشي: مؤلف ئې تشریح کړې ده (ص۱۸۷) منګ باشي هم وګورئ.

سنیاسي: جوګي، تاریک الدنیا، راهب، درویش، فقیر.

سه بندي: [ص۴۱۴ "یوسفزے ئې دلاسا کاوهٔ چې سه بندي نوکران شي"] ملیشیا بې قاعدې فوځ چې د مالیې د وصولی دپاره برتې کیږي.[د مآثر عالمګیري د انګریزي ترجمې فرهنګ].

شرمګ: [ص۲۱۷ شرمګ اس] شرمګ او شرنګ مرغونے او د مرغونے زهرې ته وائي.سورنګ (سرنګ) د اس د رنګ دپاره د زیړ بخن سور په معنیٰ ما آوربدلے دے. مرغونے خو له اوله شنه او توربخنه شنه وي. بیا برګه (شنه او زیړه) شي او په اخره زیړه شي. ګوندې برګ (ابلق) یا زیړ (سمند) اس ترې مراد وي. موثق نهٔ یم.

شقدار: د پرګنو حاکم.

شقیقه: ["په شقیقه په غشي ویشتلے شوے وهٔ"]. لویه ګنده.

غسلخانه: [بادشاه جعفر خان ته ووئیل..... جعفر خان د غسل خانې ته راووت. ص۲۳۹. ۲۴۰] لفظي معنیٰ خو ئې د لمبا کوټه ده خو د مغلوالي په تواریخ کښې بادشاه سره د خصوصي ملاقات کوټه، دالان، د خاص باریابی ځائے، وجه تسمیه ئې دا ده چې شاهجهان د اکبرې په کوټ کښې نوے محل جوړ کړو نو پکښې د بار خاص کمرې یا دالان (دیوان خاص) د اکبر غسلخانه ونیوه. هر څو کهٔ اکبر ته به اهم او ضروري معروضات غسلخانې (د لمبا ځائے) کښې هم رسول شول خو دا صحیح نهٔ ده چې مغلو بادشاهانو ته به عام طور سره

درخواستونه او عرضی د لمبا په کوته کښې پیش کیدلې [د مآثر عالمګیري د انګریزي ترجمې فرهنګ]. هسې بریښي چې اول خو به د اګرې دیوان خاص ته غسلخانه وئیل شروع شوي وي. او بیا ورپسې هر ځائے مثلاً دهلي، لاهور، او کابل کښې هم. د نظر د وړاندې عبارت د کابل واقعاتو سره تړون لري.

قلیه: قَلِیَه، دریته، سره کړې غوښه، قَلْیَه، ښوروااداره غوښه (مجمع اللغات فارسي)

قورچي: قور، اسلحه، قورچي، سلاحدار، قورچي باشي، د سلاحدارانو افسر یا مشر.

کټهره: د لرګي یا اوسپنې د سیخونو (سلاخونو) احاطه یا جنګلیه.

کجیم: برګستوان، د اس زغرې.

کلال: شراب جوړوونکے او خرڅوونکے

کلان وته[یا کلاونته]: د پښتو په قاعده د کلا نوت یا کلاونت مؤنث، پیشه وره سندرغاړې، او مجلسنه او ټوقماره.

کوکه: د تي ورور، رضاعي ورور.

کهار: یوه خدمتګاره طبقه چې پالکی او ډولی وچتول، اوبهٔ ډکول او راؤړل، او لوښي وینځل ئې کسب دے.

کیږدۍ: خیمه، تنبو.

ګنوار: باندیسي، مجازاً ناپوهه، کم عقل.

ګیدي: بې شرمه، بې حیا، بې غیرته، ګید (تپوس) ته منسوب چې نر ښځې (hermaphrodite) یو موسم یا کال نر او بل ښځه وي. (مجمع اللغات او غیاث اللغات).

لاسته: [ص ۲۱۴ "ملک نور عبدالعزیز خېل چې نیکهٔ د مؤلف وهٔ له موره لاسته". او ص۳٦٧ "یو لبارس خان چې د آغر خان د لور لاسته نمسے وهٔ"] اړخ، طرف، واسطه.

مائي باپ: مور پلار، مجازاً مربي، آقا، بادار.

متصدي: پیشکار، دفتري.

محال: علاقه، ملک، د ملک هغه برخه چې یو عامل یا سرکاري مامور پکښې خپل اختیارات پکارولے شي. د یوې علاقې یا کلي زرعي زمکه.

مقدم: [ص۸۷ "مقدم او ملک د هغه کلي" او "ارباب او مقدم". ص ۲۲۰ "چې خپل خان ئې مقدم د خهل اولس شمارهٔ"] وړومبے، اونے، مشر، سردار، ملک.

منګ باشي: منګ، قمار او جواری ته هم وائي. او د قاعدې، طریقې او دستور په معنٰي هم راځي. او باشي د مشری او سرداری معنٰي ورکوونکې لاحقه ده. غالباً چې کومه سرکاري

عهده تري مراد ده.

موډي: ادا کوونکے، ورکوونکے، د غلې سوداګر، بنیا.

میر آتش: د توپخانې داروغه.

میږ ګډورے

میږے: ګډې.

نډي: رودګے، وړوکے سیند، خوړ

نیله ګاؤ: یو بیدیانے څلور پښې چې تر ګاوزه ستر وي. هندي نیل ګائے

نیمه: د هر شي نیمائي، نیمې یا نیمه، یو قسم وچت یا لنډ پرتوګ (نسیم اللغات اردو) ـ بورقعې پورتنی برخه (مجمع اللغات) یو قسم لنډه جامه یا قمیص (د ډاکټر پال فارسي، انګریزي، اردو ډکشنري)، برقع، هغه څیز چې په مخ اچولې شي.(برهان قاطع).

واف: بلبله.

ورچنے: بهر

ورنیکهٔ: د نیکهٔ پلار، غر نیکهٔ.

وز غرڅهٔ، د سرڅه نر

وښ: د مار، لړم او موچي اوغیره ؤ زهر (سنسکرت بش یا وِش خو عام ش ؟؟ سره نه بلکه G سره).

هسک: پوچه، قرعه.

یشم: یو قیمتي شین کانړے، هسې وائي چې چا څخه وي نو تندرونه پرې نهٔ پریوزي.

یوزباشي: د سلو تنو د جماعت یا ډلې افسر

انډیکسونه

۱ شخصي نومونه

۲ جغرافيائي نومونه

دا انډیکسونه صرف په متن کښې راغلي نومونه ښيي

۱. شخصي نومونه

دا انډيکسونه صرف په متن کښې
راغلي نومونه ښيي.

آ

آتش غل مستي خيل ۲۷۶. ۴۰۹، ۴۱۰
۴۱۷.
دمؑ، ابامحمدﷺ، ابوالبشر، صفيؑ. ۱۰
۱۲ ۱۳. ۱۸ ۲۰. ۲۲ ۴۲. ۴۳. ۶۶ ۴۲۰. ۹
۴۴.
دم (د الياس زوی) ۴۶۰.
دم (ملا) ۳۳۵.
دم بنوريؒ (شيخ) ۱۳۰۵ ۱۳۴۴
دم ثاني وګورئ نوحؑ.
دم خان (د بهادر خان داؤدزي تره) ۱۸۴
دم خان (د خوشحال خان خټک تره)
۲۱ ۲۲۲ ۲۳۰
دم خان بيټنی ۱۲۲ ۱۲۴ ۱۴۰
م کاکړ (ملک): ۷۳. ۷۴. ۸۱. ۱۲۸۷،
۱۲۹ ۱۲۹۶. ۱۲۹۸ ۱۲۹۹ ۱۳۰۰
م ګکهړ (سلطان) ۱۵۷
ري ۲۸۵.
اد خان (د خوشحال خان خټک زوی)
۲۴ ۴۰۲.
اد خان (د مؤلف نيايه) ۳۰۶. ۳۹۸.
اد د ګکيانی ۴۰۶.
ر وګورئ تارخ.
ف (د برخيا زوی) ۹. ۲۹. ۳۰. ۳۱.
ف خان خانان (يمين الدوله) ۱۷۰ ۱۷۴

آغر خان ۳۶۷.
آقا طاهر (کوکه د اصالت خان) ۱۸۳
آئسه بي بي (کور د مؤلف) ۱۴۳۱

ا

ابابکر (د محمد خان حاکم ناګور همقام)
۶۹
ابابکر (د جدرام زوی) ۴۶۰.
ابابکر (شيخ) ۱۳۲۶. ۱۳۲۷
ابابکر بختيار (شاه) ۴۲۲. ۴۳۲.
ابابکر طوسي (حضرت شيخ) ۱۲۶۸،
۱۲۶۹
ابراهيمؑ، خليل الله، خليل الرحمان
۱۳ ۱۴ ۳۱. ۴۲. ۴۳. ۴۴۹.
ابراهيم ۱۰۲
ابراهيم ۳۲۹. ۳۳۰. ۳۳۱.
ابراهيم (زوی د ککو) ۴۶۰.
ابراهيم (عرف لودي، زوی د شاه حسين
غوري او بي بي متو چې لور د شيخ بيټ وه)
۱۲۷۴
ابراهيم (شيخ) ۳۹۶.
ابراهيم (ملک) ۲۲۸.
ابراهيم (مير) ۲۹۸. ۲۹۹
ابراهيم اخو خيل ۲۶۵.
ابراهيم اکوړ خيل ۱۴۳۷
ابراهيم الياس زی (ملا) ۲۰۹.
ابراهيم بيګ ۱۱۱
ابراهيم خان (ورور د سلطان حسين) ۵۷.
ابراهيم خان (زوی د سلطان سکندر)
وګورئ ابراهيم لودي سلطان.
ابراهيم خان (زوی د علي مردان خان)

۱ ۳۲۱. ۳۰۶.
ابراهیم خان سور ۱۶۰ ۱۶۱ ۱۶۲
ابراهیم خان یوسف خیل ۱۰۳
ابراهیم خان سور(میان ، د شیر شاه نیکهٔ) ۸۲. ۴۵۸.
ابراهیم شاه ولد نصیب شاه (د بنګالي بادشاه) ۹۹. ۱۰۰. ۱۰۱. ۱۰۵. ۱۶۳
ابراهیم خان لوحاني. ۶۷. ۷۵.
ابلیس ۱۱
اَبن (سید) ۴۸.
اِبن العجوز وګورئ حزقیل.
ابن عباسؓ ۲۱.
ابن عطا ۲۱
ابن یمین وګورئ بنیامین
ابو اسحاق داوي ۱۲۸۷ ۱۲۹۳
ابوالانبیاءَ وګورئ سام.
ابوالحسن، خواجه (د شاه جهان امیر) ۱۷۰ ۱۷۱
ابوالحسن(جهانګیري) ۲۱۵.
ابوالحفیظ مخدوم ۴۲۲.
ابوالخیر خان (د خوشحال خان خټک زوی) ۲۲۱. ۳۲۹.
ابوالرضا ۴۲.
ابوالفتح (شیخ، مرید د حضرت شیخ آدم بنوريؒ) ۱۳۱۷. ۱۳۱۸. ۱۳۱۹
ابوالفتح (زوی د سوتي) ۴۵۹.
ابوالفتح (حکیم) ۲۱۱.
ابوالفتح لنګاه ۱۱۳
ابوالفرح (مخدوم) ۱۳۲۵.
ابوالفرح (زوی د سوتي) ۴۵۹. ۴۶۰.
ابوبکر صدیقؓ. امیر المؤمنین، صدیق اکبر خلیفه. ۳۴. ۳۵. ۳۶. ۳۷. ۳۸. ۲۸۵.
ابوسعید (ابوسعید خیل له اولاده د سور) ۴۵۹.
ابوسعید شوریانيؒ (شیخ) ۴۲۲. ۴۳۲.
ابوسفیانؓ. ۳۲. ۳۵. ۳۶. ۳۷. ۳۸. ۴۰.
ابوعبیدهؓ. ۳۶. ۳۷. ۳۸. ۳۹. ۴۰. ۴۱.
ابوقتاده انصاريؓ ۳۴.
ابي ۴۲.
ابي جهل وګورئ عکرمهؓ بن ابي جهل.
ابي طالب ۳۴. ۱۶۱
اتمان (زوی د ککي او ورور د خټک او د اتمان خیلو کرلانیو مورث) ۲۱۸.
اتمان (اتمانخیل، زوی د سنجر) ۴۶۰.
اجیالا دولت خان. ۱۵۶. ۱۵۸. ۱۶۴
اچو ولد موسي. ۴۶۰.
احداد خان مهمند ۱۷۱
احمد (شیخ) ۱۴۳۰
احمد (شیخ ، زوی د بایزید سرواني، شیخ) ۱۰۹
احمد (ملک) ۴۴.
احمد (مخاطب په اعظم همایون) ۶۳
احمد (ورور د شیر شاه) ۸۶. ۴۵۸.
احمد (سید ورور د شهامت خان) ۲۸۹
احمد (ملک د یوسف مندړ) ۲۰۰. ۲۰۲. ۲۰۹.
احمد (زوی د موسي او والد ماجد د حضرت قطب الدین بختیار کاکيؒ) ۴۲۲. ۴۲۵.
احمد (فرزند د حضرت قطب الدین بختیار کاکيؒ. ۴۲۴

احمد (زوے د بهدین) ۴۶۰.
احمد (زوے د سرپال) ۴۶۰.
احمد (زوے د ملک شاهو) ۴۵۹.
احمد آفریدے ۲۷۵. ۲۷۷.
احمد بیک منگباشي ۳۴۹. ۳۷۵.
احمد خان. ۸۰ (ا).
احمد خان ۱۰۲
احمد خان (ورور د اعظم همایون لودي) ۸۱.
احمد خان (زوے د مبارک خان جلواني) ۵۵.
احمد خان خویشکے اخلاص خان دیندار خان ۱۹۵
احمد خان سور ۱۶۱ ۱۶۲
احمد خان میراتي ۴۹. ۵۱. ۵۲. ۵۵.
احمد زنده پیر (زوئے د شیخ علي شهباز) ۴۶۰.
احمد شیرانے (ملک) ۴۶.
احمد کابلي ۲۱۲.
احمد کابلي (شیخ) ۱۳۰۸
احمد لوحاني آفرین باد (شیخ) ۱۲۷۲ ۱۲۷۹ ۱۲۸۱
احمد لودي (شیخ) ۱۲۷۲
اخترے ۲۴۸.
اختیار (ملک) ۳۱۴.
اختیار خان اسحاق خان (زوے د مسند عالي عیسیٰ خان) ۱۳۹
اخون پنجو ۱۴۱۰
اخون درویزه. ۱۹۶. ۱۹۸. ۲۰۲. ۳۰۳. ۳۰۵. ۲۸۵. ۶ وګورئ درویزه هم.
ادریسؑ ۱۲.
ادریس مزباني (شیخ) ۱۲۷۲
ادهم خان کوکه ۱۶۴ ۱۶۵
ارتي (ارتي خیل ولد سنجر) ۴۶۰.
ارزند ۴۳.
ارسطو ۷۴.
ارفخشند ۱۳. ۴۳.
ارمیا (زوے د طالوتؑ) ۲۹. ۴۳. ۴۴۹.
ارمیا تارن (شیخ) ۱۲۸۷ ۱۲۹۴
استو (د اسماعیل زوے) ۴۶۰.
اسحاقؑ ۱۳ ۱۴. ۱۵. ۱۶ ۴۳.
اسحاق (پلار د طبري مؤرخ) ۲۱.
اسحاق (اسحاق زے له اولاده د سور) ۴۵۹.
اسحاق (سید) ۴۲۵.
اسد (د نصرت خان) ۳۵۵.
اسدالله خان (د مؤلف زوے) ۳۴۵. ۳۵۵. ۳۵۶. ۳۵۷. ۳۵۹. ۳۶۰. ۳۶۱. ۳۶۲. ۳۶۸. ۳۶۹. ۳۷۰. ۳۷۱. ۳۷۲. ۳۷۳. ۳۷۸. ۳۸۱. ۳۸۴. ۳۸۵. ۳۹۱. ۳۹۵.
اسد خان (آصف الدوله) ۳۳۷.
اسد خان (د یحییٰ خان نمسے) ۳۵۶. ۳۶۸. ۳۶۹.
اسد خان مندهنړ ۳۵۰.
اسدے خورم ۳۵۷.
اسرائیل الله. وګورئ یعقوبؑ.
اسروغ. ۱۶
اسفندیار خان ۳۱۵.
اسکندر (یعني سکندر یوناني) ۳. ۳۴۷. وګورئ سکندر هم.

اسکندر (سلطان سکندر لودي) ۷۹.
وګورئ سکندر هم.
اسلام خان (زوئے د اعظم همایون سرواني) ۷۶(ا). ۸۱. ۸۲.
اسلام خان لودي. وګورئ سلطان شاه لودي.
اسلام خان (د عهد شاه جهاني يو امير) ۱۷۰
اسلام شاه (سلطان) جلال خان، عبدالجليل ۷۹. ۱۰۱. ۱۰۴. ۱۰۵. ۱۰۶
۱۰۷ ۱۰۸ ۱۰۹ ۱۱۲ ۱۱۳
۱۱۴ ۱۲۲ ۱۲۵ ۱۳۵ ۱۳۶ ۱۳۷
۱۳۸ ۱۳۹ ۱۴۰ ۱۴۱ ۱۴۲ ۱۴۳
۱۴۴ ۱۴۵ ۱۴۶ ۱۴۸ ۱۴۹ ۱۵۰
۱۵۱ ۱۵۲ ۱۵۳. ۱۵۴ ۱۵۵ ۱۵۶
۱۵۷ ۱۵۸ ۱۵۹ ۱۶۰ ۱۶۴ ۱۲۶۶.
۱۲۷۱. ۱۲۷۷. ۱۲۷۹ ۱۲۹۴. ۴۵۸.
اسماعيل (د حضرت امام جعفر صادقؒ زوئے) ۴۶۰.
اسماعيل (مياں، زالد صاحب د حضرت شيخ آدم بنوريؒ) ۱۳۰۵
اسماعيل (د ابوالفرح د زوي يونس زوئے) ۴۶۰.
اسماعيل (ملک، زوئے د علاء الدين جلواني) ۷۳. ۸۰.
اسماعيل بلوڅ ۱۲۶.
اسماعيل خان (زوئے د سلطان سکندر لودي) ۵۹. ۷۳.
اسماعيل خان (د خوشحال خان ختک د خسر ملو خان پلار) ۲۲۱.
اسماعيل خان (د خوشحال خان ختک زوئے) ۲۲۱.
اسماعيل خان بنګښ کوهاټي ۲۹۷. ۲۹۸. ۳۱۸. ۳۱۹. ۳۲۰. ۳۲۱. ۳۲۲. ۳۲۳. ۳۴۳.
اسماعيل سړبنے (شيخ، زوئے د شيخ بيټ خو مشهور په سړبني) ۴۲۲. ۴۲۴. ۴۲۵. ۱۲۷۵ ۴۵۳.
اسماعيل سور (شيخ) سجاول خان، شجاعت خان ۹۶. ۹۷. ۱۱۶ ۱۲۳. ۱۲۸. ۱۲۹ ۱۳۴ ۱۵۴
اسماعيل شاه ۱۳۳۳
اسماعيل لوحاني ۵۹. ۶۰
اسوت (د خضر شوئے) ۴۶۰.
اسيف (اسيف خيل له اولاده د محمود زي) ۴۵۹.
اشپون (زوئے د شيخ بيټ) ۴۵۳.
اشرف خان، خان جنت مکان، خان جنت نښان، هجري. د خوشحال خان ختک مشر زوئے او د مؤلف پلار ۱۸۸ ۲۱۶. ۲۲۰. ۲۲۱. ۲۳۲. ۲۳۵. ۲۳۶. ۲۴۸. ۲۴۹. ۲۵۰. ۲۸۶. ۲۵۷. ۲۵۸. ۲۵۹. ۲۶۰. ۲۶۱. ۲۶۲. ۲۶۳. ۲۶۴. ۲۶۶. ۲۶۷. ۲۷۰. ۲۷۱. ۲۷۴. ۲۸۹. ۲۹۰. ۲۹۱. ۲۹۲. ۳۹۷. ۴۰۴. ۴۰۵. ۴۰۶. ۴۰۷. ۴۰۹. ۴۱۱. ۴۱۷. ۴۲۰. ۴۲۲. ۴۶۶.
اشعت بن قيس کندي ۴۱. ۴۲.
اشموئيل. ۲۰. ۲۱. ۲۲. ۲۳. ۲۵. ۲۶. ۲۷. ۲۸. ۲۹.
اصالت بنګښ (ورارهٔ د اسماعيل بنګښ) ۳۴۳. ۳۶۷.

اصالت خان ۱۷۵ ۱۷۶ ۱۷۷ ۱۷۸ ۱۷۹ ۱۸۰ ۱۸۱ ۱۸۲ ۱۸۳ ۱۸۴ ۲۳۶. ۲۸۶. ۲۸۸.

اصالت ګکهړ، اصالت خان ګکهړ ۲۹۸. ۲۹۹ ۳۰۴. ۳۰۶. ۴۱۶.

اصغر (ملک) ۲۱۳.

اصغر خان ۲۶۶. ۲۷۱.

اصغر خان (د دهلي حاکم) ۶۴

اصغر مشي خيل ۲۶۹.

اعتزاد قلي افشار ۲۱۳

اعتقاد خان ۳۴۸.

اعظم خان ۵۹.

اعظم خان ۳۷۴. ۳۷۵.

اعظم خان همايون (زوی د سلطان سکندر لودي) ۵۹.

اعظم شاه (بادشاهزاده، د اورنګزيب زوی) ۱۷۳ ۱۹۴ ۳۱۹. ۳۲۱.

اعظم همايون ۷۲. ۷۳. ۸۱. ۹۱. ۱۰۳

اعظم همايون (زوی د شهزاده خواجه بايزيد) ۵۸. ۶۰

اعظم همايون (حاکم د کاتيهر وغيره) ۷۰.

اعظم همايون ثاني ۱۰۲

اعظم همايون سرواني پهاړ خان ۷۳. ۷۵. ۸۱. ۸۲. ۱۰۳ ۱۰۵ ۱۱۶ ۱۲۲ ۱۲۱

اعظم همايون لودي ۷۳. ۸۱.

اعظم همايون نيازي ۱۴۹ ۱۵۵ ۱۵۶

افتخار خان ۲۸۸. ۳۰۳.

افراهيم ۱۹

افضل خان مؤلف د کتاب ۲۱۷. ۲۶۴. ۲۶۵. ۴۱۲. ۴۶۶.

افغنه ۲۹. ۳۰. ۳۱. ۴۳. ۴۴۹.

افلاطون، فلاطون ۷۴. ۱۵۸ ۳۰۷.

اقبال خان ۵۸. ۵۲. ۱۵۶

اکبر (د سعادت خان خټک زوی) ۳۳۱.

اکبر جلال الدين شهزاده، بادشاه ۱۲۵ ۱۶۰ ۱۶۲ ۱۶۳ ۱۶۷ ۱۶۸ ۱۶۹ ۲۰۵. ۲۰۹. ۲۱۰. ۲۱۲. ۲۱۳. ۲۲۶. ۲۲۸ ۱۲۷۶

اکبر خان (د خوشحال خټک زوی) ۲۲۱

اکو (د موسي زوی) ۴۶۰.

اکو، اکوړ (ملک)، زوی د محمد درويش عرف چنجو او غور نيکهٔ د خوشحال خان خټک) ۱۸۶ ۲۱۷. ۲۱۹. ۲۲۵. ۲۲۶. ۲۲۷.

الا (زوی د ملک بهرام) ۴۵۹.

الائي (د احداد روښاني ارتينه) ۱۷۲ ۲۱۴. ۲۱۶

الغ بيک مرزا ۱۹۸

الف (ملک، د خوشحال خان خټک خسر) ۲۲۸.

الله داد (شيخ، مندوڼړی خټک) ۲۶۸. ۳۵۸ ۱۳۴۸ ۱۳۴۹ ۱۴۳۵

الله داد چشتي (ميان) ۱۴۳۳ ۱۴۳۴ ۱۴۳۵

الله داد خان بنګښ ۲۴۹.

الله داد خان خويشکی ۲۹۵. ۲۹۶. ۳۲۲. ۳۲۳. ۴۰۰. ۴۰۱. ۴۰۷. ۴۱۲. ۴۱۴. ۴۱۸.

الله داد خــان يــوسفزے ۲۳۵. ۲۷۸. ۲۷۹.
۲۸۵.
الله يـار (د بهـادر خـان ختـک زوے) ۲۲۱.
۲۲۲.
الله يار خان (د غزني فوځدار) ۳۰۶.
الو عمر خيل (ملک) ۲۲۹.
الوګے رخړ ۲۳۵.
اليا ۱۴ ۱۶ ۱۹
الياسؑ ۲۲.
الياس (د ابابکر زوے) ۴۶۰.
الياس (د تاج کرلاني ورور) ۱۶۵
الياس برېخ (شيخ) ۲۳۲. ۴۲۲. ۱۲۶۱ ۱۲۶۲.
اليسع ۲۲.
امام قلي (متصدي) ۳۱۱.
امان الله خان (د خوشحال خان ختـک زوے)
۲۲۱. ۳۲۹.
امة الحبيب ۴۹۶.
امير خان، سيد مير (د شيخ مير ورور) ۱۸۸
۲۳۴. ۲۳۵. ۲۵۰. ۲۵۱.
اميــر خــان (د خـليل الله خـان زوے) ۲۸۸.
۲۸۹. ۲۹۱. ۲۹۴. ۲۹۷. ۳۱۰. ۳۱۱.
۳۴۰. ۳۹۸. ۳۹۹. ۴۰۰. ۴۰۱. ۴۰۲.
۴۰۳. ۴۰۴. ۴۰۵. ۴۰۶. ۴۰۷. ۴۱۰.
۴۱۱. ۴۱۲. ۴۱۴. ۴۱۵. ۴۲۰.
امين (حافظ) د ملا شمس الدين) ۳۶۹.
انج (د کاکړ زوے) ۴۱۰.
انجا (د ملک يوسف زوے) ۴۵۹.
انرودهـ (د بوندي راجا) ۲۹۶.
انوپ سنگهـ (راجا) ۴۱۲.
انوش ۱۲ ۴۳.

انۀ تنه مردان کاکړ زلغوزي ۲۸۷.
اني رائے ۱۷۱
اوچـا (د يوسف يا يونس ولد ابو الفرح زوے)
۴۲۰.
اودل (د ترين زوے) ۴۵۰.
اودل (د سنجر زوے) ۴۶۰.
اورنګ زيــب، اورنګ شــاه، عــالـمګيـر
(بــادشــاه) ۸. ۱۷۳. ۱۸۴ ۱۸۵ ۱۸۶
۱۸۷ ۱۸۹ ۱۹۰ ۱۹۱ ۱۹۲. ۱۹۴
۱۹۵ ۱۹۶ ۲۲۱ ۲۳۳ ۲۳۷. ۲۴۹
۲۵۰. ۲۵۷. ۲۵۸. ۲۶۴ ۲۷۷. ۲۷۸
۲۸۲. ۲۸۳. ۲۸۸ ۲۹۴ ۲۹۵. ۲۹۷
۳۱۰. ۳۱۸. ۳۱۹. ۳۳۳. ۳۳۴. ۳۴۳.
۴۱۵. ۴۲۱. ۱۳۰۸ ۱۳۱۷
اوزبک خان ۱۶۲
اويس ۴۴.
اويس سرواني (خواجه) ۱۵۵
اياز ۱۵۸
ايتا ۲۴. ۲۵.
ايسـک (زوئے د بهدين) ۴۶۰.
ايمل (ملک) ۳۹۳.
ايمل آفريدے ۳۴۳.
ايـمـل خــان (مهـمند) ۲۶۲. ۲۷۵. ۲۷۷.
۲۷۸. ۲۷۹. ۲۸۰. ۲۸۱. ۲۸۳. ۲۸۴.
۴۱۴.
ايمل (ختـک) ۲۲۲.
ايوب (مندڼ) ۲۴۰.
ايـمـنــه بي بي (حرم د سلطان بهلول لودي او
مور د سلطان سکندر لودي) ۵۹.

ب

بابادل. وګورئ عبدالقادر خان
بابر (بادشاه) ۴۸. ۹۲. ۹۵. ۹۶. ۱۰۲
۱۹۹ ۲۰۷. ۲۰۸. ۲۰۹.
بابو ۶۵
بادے ۳۰۴. ۳۰۶. ۳۰۷. ۳۱۱. ۳۱۴.
۳۱۹. ۳۲۳. ۳۲۵. ۳۲۶. ۳۲۹. ۳۳۱.
۳۳۴. ۳۳۷. ۳۴۰. ۴۰۲. ۴۰۷. ۴۱۸.
۱۴۳۰
باریک شاه (شاهزاده، د سلطان بهلول
زوے) ۵۹ ۶۰ ۶۱ ۷۰. ۸۵. ۸۶.
۱۳۶
بارک شاه ۳۲۴.
باز (شیخ) ۴۱۵.
باز بهادر ۱۵۹ ۱۶۳ ۱۶۴
باز خان وګورئ شهباز خان
باز مهمنزے، بازو (ملک، د میاں خان زوے)
۳۷۸. ۳۸۱. ۳۸۲. ۳۸۸.
بازید، بایزید. میر خواجه (زوئے د سلطان
بهلول) ۵۱. ۵۸.
بازید (شیخ، زوے د شیخ مهلي قتال) ۴۶۰.
بازید (زوئے د سلیمان کرلاني) ۱۶۷
بازید (د مستجاب مهمند ترۀ) ۲۵۸.
بازید سرواني (شیخ) وګورئ بایزید سرواني
باقرؒ وګورئ امام محمد باقرؒ
باقي خان (د خوشحال خان خټک د ترۀ آدم
خان زوے) ۲۲۲.
باني (د غورغشتي زوے) ۴۶۰.
بائي (بي بي، د اسلام شاه ارتینه) ۱۵۹
بایزید (شیخ) ۱۴۱۵
بایزید (تاریک، روښان) ۲۰۲. ۲۰۳.
۲۱۳. ۲۸۵.
بایزید، بازید سرواني (شیخ) ۱۲۷۲
۱۲۸۳ ۱۲۸۴.
ببن (خواجه) ۶۵
بجلي خان سرواني ۱۲۲
بخت ناک خان (د خوشحال خان خټک
زوے) ۳۲۰.
بخت نصر ۱۱ ۳۱.
بختیار ثاني وګورئ علي.
بخشو لنګاه ۱۳۰
بدرالدین (د صدر خان) ۳۵۰.
بدرالدین جلواني ۷۳.
بدرالدین غزنوي (شیخ) ۴۲۳.
بدک تارن ۱۲۸۷ ۱۲۹۴
بدو (د مؤلف باورچي) ۲۹۵.
بدها (شیخ) ۷۰.
بُدهه سنګهه (بوندي وال) ۲۹۶.
بدهو ۹۱.
بدیع الدین خان ۳۴۶. ۳۴۷.
بدیع الزمان وګورئ جعفر.
برت (د سنجر زوے) ۴۶۰.
برخیا ۹. ۲۹.
بر سنګهه دیو (رائے، زوے د رائے پرتاب)
۵۵.
برصیصا بلعم باعور ۱۹
برق انداق خان ۱۸۹
برم (برم زے د سنجو زوے) ۴۶۰.
برمزید ګور ۱۲۲ ۱۲۴ ۱۲۶
۱۴۹ ۱۵۰
برمزید مندڼ ۲۰۲.

برهان الملک (بادشاه د دکن) ۱۶۵.
بستان بړيخ (شيخ) ۴۲۲. ۴۳۱.
بشن سنګهه (د انبير راجا) ۲۹۷.
بشير (زوی د علي اسماعيل زي) ۱۰۱.
بشير خان (زوی د خوشحال خان ختک) ۲۲۱.
بشير خان (بل زوی د خوشحال خان ختک) ۲۲۱.
بکرماجيت (زوی د رائے ګنپش) ۶۵
بلقيس ۹.
بلند (د لعل بيګ زوی) ۳۴۸.
بنګالي خان (د مهابت خان ورارهٔ) ۲۵۸.
بلو (ملک) ۲۲۹.
بلے (زوی د سرواني) ۴۵۹.
بوبک (زوی د سوتي) ۴۵۹.
بوچه خان (د صاحب خان زوی او د خوشحال خان ختک خسر) ۲۲۰.
بوچه خان (د مستجاب مهمند ترهٔ) ۲۵۶.
بوچے (زوی د تور) ۴۵۹.
بورا (د شير خان بنګښ کوهاټي غلام) ۲۹۰.
بوړے ډنګرزے ۲۴۶.
بوصيري ۲۸۵.
بولے (د ککو زوی) ۴۶۰.
بهادر (د شائسته دوران مورث) ۳۴۸.
بهادر خان (د خوشحال ختک ترهٔ) ۲۱۹. ۲۳۱. ۲۳۴. ۲۳۸. ۲۴۲. ۲۴۳. ۲۴۹. ۲۵۸.
بهادر خان (د شير خان بنګښ ترهٔ) ۲۴۹.
بهادر خان (د زيري) ۲۷۲.
بهادر خان (د خان جهان لودي عزيز) ۱۷۱
بهادر خان خويشګے، نظر بهادر، نظر محمد
بهادر خان ۱۹۵.
بهادر خان داؤدزے ۱۷۱. ۱۷۳. ۱۷۴. ۱۷۵. ۱۷۶. ۱۷۸. ۱۸۰ ۱۸۲. ۱۸۳. ۱۸۴. ۱۸۵. ۱۸۶. ۱۸۷. ۱۸۹. ۱۹۲. ۱۹۳. ۲۳۵. ۲۳۶. ۲۹۷.
بهادر خان کوکه ۱۹۴ ۳۴۰.
بهادر خان لوحاني ۷۳.
بهادر لنډے مهمند ۴۰۴.
بهادر دين (شيخ) د حضرت شيخ رحمکارؒ والد صاحب) ۲۲۳. ۱۳۳۲. ۱۳۳۳ ۱۳۳۴ ۱۳۳۶. ۱۳۶۶ ۱۳۸۶. ۱۴۰۳.
بهادر شاه (د ګجرات سلطان) ۱۰۴. ۱۰۵ ۱۱۸.
بهادر شاه (د اورنګ زيب زوئے او جانشين) ۱۷۳ ۱۹۰. ۱۹۳. ۱۹۴ ۲۸۸. ۲۸۹. ۲۹۴. ۲۹۵. ۲۹۶. ۲۹۷. ۲۹۸. ۲۹۹ ۳۰۰. ۳۰۱. ۳۰۲. ۳۰۳. ۳۰۴. ۳۰۵. ۳۰۶. ۳۰۷. ۳۰۸. ۳۰۹. ۳۱۰. ۳۱۱. ۳۱۲. ۳۱۳. ۳۱۵. ۳۱۶. ۳۱۷. ۳۱۸. ۳۱۹. ۳۲۱. ۳۳۳. ۳۳۵. ۳۳۶. ۳۴۰. ۳۴۳. ۴۰۶.
بهارت بنديله (راجا) ۱۷۰.
بهار خان (مخاطب په سلطان محمد زوی د دريا خان لوحاني) ۹۳. ۹۴. (محمد شاه)
بهاګو خان ۱۹۱. ۲۲۹. ۲۳۰. ۲۳۳. ۲۳۷. ۲۳۹. ۲۴۰. ۲۴۱. ۲۴۲. ۲۴۸.
بهاؤ سنګهه هاډا ۱۹۳.
بهاء الحق (شيخ) ۱۵. ۱۲۱.

بهاء الدين جلواني ۴۶.
بهاء الدين زكريا (غوث العالم، شيخ) ۴۲۳. ۱۲۹۰
بهائي خان بنگبش ۲۴۹.
بهدين بختيار (شيخ. شيخ المشائخ) ۴۲۲. ۱۲۶۶ ۱۳۰۲
بهدين (زوی د پهو) ۴۵۹.
بهدين (زوی د سام) ۴۵۹.
بهرام (زوی د كپوري) ۳۲۷. ۳۷۸.
بهرام (ملک، زوی د احمد) ۴۵۹.
بهرام خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۰ ۲۳۴. ۲۴۸. ۲۵۷. ۲۵۸. ۲۵۹. ۲۶۲ ۲۶۳. ۲۶۴. ۲۶۶. ۲۶۸. ۲۶۹. ۲۷۴ ۲۸۶. ۲۹۲. ۲۹۳. ۲۹۴. ۲۹۶. ۲۹۷ ۲۹۸. ۲۹۹. ۳۰۱. ۳۰۴. ۳۰۶. ۳۰۷. ۳۰۹. ۳۱۲. ۳۱۵. ۳۱۷. ۳۱۹. ۳۲۰. ۳۲۲. ۳۲۵. ۳۲۶. ۳۲۸. ۳۲۹. ۳۳۴. ۳۳۵. ۳۳۷. ۳۹۷. ۳۹۸. ۳۹۹. ۴۰۰. ۴۰۱. ۴۰۲. ۴۰۳. ۴۰۴. ۴۰۵. ۴۰۶. ۴۰۷. ۴۰۸. ۴۰۹. ۴۱۰. ۴۱۱. ۴۱۲. ۴۱۳. ۴۱۴. ۴۱۵. ۴۱۷. ۴۱۸. ۴۱۹. ۴۲۰.
بهكاري خان فرملي (مسند عالي) ۸۱.
بهكونت داس (راجا) ۲۱۲. ۲۱۳.
بهلول (ملک، خان خانان، سلطان زوی، د ملک كالاشاهو خيل لودي) ۱۱ ۴۷. ۴۹. ۵۰. ۵۱. ۵۲. ۵۳. ۵۴. ۵۵. ۵۶. ۵۷. ۵۸. ۵۹. ۶۴ ۶۹ ۷۱. ۷۴. ۸۵. ۸۶. ۱۰۲ ۱۰۵ ۱۳۶ ۱۲۹۶ ۴۵۹. ۴۶۶.
بهلول (شيخ، د شيخ محمد غوث ورور) ۱۱۵
بهلول ميانی ۱۷۲ ۱۷۳ ۱۹۵
بهوا (ميان، د سلطان سكندر لودي وزير) ۷۴. ۷۷. ۸۱. ۸۲.
بهوانيداس ۳۵۹. ۳۰۳.
بهوپال ۱۲۱
بهيد (رائی، د بهته راجا) ۶۱ ۶۲
بيكن خان لوحاني ۸۱.
بهيم راتهور ۱۷۱
بيا (بيا خيل له اولاده د بوچي) ۴۵۹.
بي بي دور (د شير خان بنگبش مور) ۲۴۸
بي بي مريم ۱۳۲۹
بيټ، بيټن، بيټنی (حضرت شيخ) ۴۴. ۱۲۷۲ ۱۲۷۴ ۱۲۷۵ ۱۲۷۷ ۴۴۹. ۴۵۳. او اولاد ئي ۴۵۳ نه تر ۴۶۰.
بيتهلداس (راجا) ۱۷۱
بيربر (راجا) ۲۱۱. ۲۱۲.
بير سنگهـ ديو (د راجه بهيد زوی) ۶۲
بيرم خان ۱۱۴ ۱۲۴ ۱۲۵
بيک بري ۱۲۲
بيگي ۱۴۱۲ ۱۴۱۳
بين (ميان، زوی د ميان عطا شاهو خيل) ۱۰۲ ۱۰۳ ۱۰۵
بين خان (د همايون مهردار) ۱۲۴

پ

پائي سيداني (شيخ) وگورئ سيداني
پاينده رضا ۲۱۲.
پرتاب (رائی) ۴۹. ۵۲. ۵۳. ۵۵.
پرتهي راج راتهور ۱۷۱
پردل خان بريخي ۱۶۹

پرویز (سلطان) ۱۹۵.
پلي (د ابابکر زوی) ۴۶۱.
پني (د داني زوی) ۴۶۱.
پورنمل ۱۲۱. ۱۲۷. ۱۲۹.
۱۳۲
پهاړ خان سرواني وګورئ اعظم همایون.
پهاړ خان لوحاني ۱۲۹. ۱۴۹. ۱۵۰
۱۵۴.
پهو (زوی د ملک یوسف) ۴۵۹.
پهولا (سید، د شهامت خان زوی) ۴۰۷.
پیاره (قاضي) ۷۰.
پیر خان (د خوشحال خان خټک زوی)
۲۲۱.
پیرداد ۱۷۲.
پیر سباک وګورئ سباک.
پیر عبدو ۲۸۷.
پیر محمد (مرزا د امیر تیمور له فرزندانو)
۴۶.
پیرو کمال زی (ملک) ۲۴۸.
پیروګی ۲۴۶.

ت

تاتار، تتر (ملک) ۳۹۹.
تاتار خان ۶۵.
تاتار خان، تتر آفریدی (ورور د دریا خان
آفریدي) ۲۷۱. ۲۷۲. ۲۷۵.
تاتار خان کانسي، کاسي (د شیر شاه زوم)
۱۵۰. ۱۶۱.
تاتار خان لودي ۵۹.
تاج بي بي (د خوشحال خان خټک لور)
۲۷۱.
تاج بیګ هوتی ۲۷۴.
تاج خان لودي ۱۰۱. ۱۰۲.
تاج دین (زوی د ملک یوسف ۴۵۹.
تاج محمد تاج کرلانی ۱۵۸ ۱۶۲ ۱۵
۱۶۶
تاجی ۴۵۹.
تارج ۴۳.
تارخ، آزر ۱۳. ۴۳.
تارن (د کاکړ زوی) ۴۶۰.
تاروکه (مور د یحیی خان خټک) ۲۱۹.
تالش بیګ ۲۱۱.
تالی، طالی یوسفزی ۲۸۱. ۲۸۵.
تاهر (تاهرزی زوی د حضر) ۴۶۰.
تتار خان (له اولاده د فیروز) ۴۵۹.
تدارق ۳۶.
تردي بیګ خان ۸۳. ۱۲۲
ترسم سینی ۲۷۴. ۳۱۴.
ترغزی (زوی د کاکړ) ۴۶۰.
ترکی مندړ (ملک) ۲۰۹.
ترو (د جلال خان) ۳۹۶.
ترین خان فوځدار ۲۹۱. ۴۰۴. ۴۰۵.
تغرق (د کاکړ زوی) ۴۶۰.
تغلق شاه ۱۵۹.
تلوک چند (رائی) ۵۷.
توذر ۴۰. ۴۱.
تور (ملک) ۲۱۳. ۲۱۴. ۲۱۶.
تور (زوی د سرک) ۴۵۹.
توری ۳۴۹. ۳۵۹. ۳۶۸. ۳۷۳. ۳۷۴
۳۷۸. ۳۸۶. ۳۹۱. ۳۹۵.
تومنی جد احداد روښاني مطرب) ۲۱۴.

تونسو (د ملک یوسف زوی) ۴۵۹.
تیمو ۲۲۵.
تیمور صاحبقران (امیر) ۳۶. ۱۹۸
ټ
ټوډر کهتري ۱۲۷
ټو ډرمل (راجا) ۱۶۷
ث
ثابت بریځ (شیخ) ۴۲۲. ۱۲۵۹
ج
جالوت ۲۰ ۲۱. ۲۳. ۲۴. ۲۵.
جالینوس ۱۵۸
جام (راجا) ۱۹۵
جام (قبیله یا سړی. د ملک یوسف خسر یا خسرگنی) ۴۵۹.
جامي ۲۸۵
جانباز (ملا) محمد جان باز (اخوند) ۳۹۳. ۳۹۴. ۳۹۵.
جانم امازی (ملک) ۲۴۶. ۲۴۸.
جان محمد (ملا، د فرید کمالزي زوی) ۳۷۹. ۳۹۵. وګورئ جانو هم.
جان نثار خان ۱۶۹
جانو (د فرید کمالزي زوی) ۳۲۹.
جانو ورکزی ۳۲۲.
جاني (ملک) ۲۲۵.
جاني خان ۳۳۷.
جبار (چې په نامه ئې قبر یاد شوی دی) ۴۰۴.
جبار قلي ګکهړ (نمسی د خان ملک) ۲۲۸. ۴۱۲.
جدرام ۱۶۵ ۱۶۶
جدرام (د کاکړ زوی) ۴۶۰.
جسونت سنګهـ راټهور (راجا) ۱۸۹ ۱۹۱ ۱۹۲ ۱۹۳ ۲۷۴. ۲۷۵. ۲۷۷. ۲۸۸. ۲۸۹.
جعفر (شیخ) ۳۸۳! ۱۳۸۴
جعفر (د سرپال زوی) ۴۶۰.
جعفر (مرزا، بدیع الزمان مهابت خاني) ۱۸۹
جعفر (میرزا، د امیر خان ولد خلیل الله خان زوی) ۴۰۳.
جعفرؓ بن ابي طالب ۳۴.
جعفر صادقؒ (امام) ۲۱۷.
جعفر نیلابي ۳۲۸.
جلال (جلال خیل د کاکړ زوی) ۴۶۰.
جلال الدین (سلطان، وګورئ جلال خان، سلطان جلال الدین د سلطان سکندر لودي زوی).
جلال الدین (سلطان د سلطان معز الدین) ۴۵۵.
جلال الدین (د سکندر خان) ۳۲۹.
جلال الدین (روښاني، د بایزید اورمړ زوی) ۱۷۲ ۲۰۴. ۲۰۵. ۲۱۱. ۲۱۲. ۲۱۳.
جلال الدین (شیخ) ۴۲۳.
جلال بخاري (سید) ۴۲۵.
جلال خان وګورئ اسلام شاه.
جلال خان ۸۶. ۸۷.
جلال خان ۱۲۰
جلال خان (د خوشحال خان ترهٔ) ۱۹۰ ۲۳۱.
جلال خان (د خوشحال خان زوی) ۲۱

حسن خان (جونپوري شهزاده) ۵۳.
حسن خان (میواتي) ۱۰۲
حسن خان بنګښ ۳٦۷.
حسن خان غوریه خیل مهمند ۱۷۳
حسن علي (آفریدے) ۲۷۷. ۲۷۸.
حسن قلي خان. وګورئ خان جهان.
حسنه وګورئ شرحبیل.
حسنے (د الیاس زوے) ۴٦۰.
حسنے (د جد رام زوے) ۴٦۰.
حسو (میاں، د عباس سرواني زوے) ۹۷.
حسین (امام) ۲۱۷. ۲۸۵ ۴۱۹.
۴٦۴. ۴٦۵.
حسین (د کیوي زوے) ۴٦۱.
حسین جلواني وګورئ رائے حسین جلواني
حسین خان ۵۳. ۵۵.
حسین خان ۱۲۰
حسین خان (د سلطان ابراهیم لودي زوے)
۷۳. وګورئ حسن خان هم.
حسین خان، سلطان حسین ۵۴. ۵۵. ۵٦.
۵۷. ۵۸. ٦۲ ۸۵.
حسین خان نو مسلم وګورئ ډونګر، رائے
حسین علي خان (سید) ۳۳۷. ۳۴۷. ۳۴۸.
۳۵۴.
حسین فرملي (ملک) ۸۱.
حضرت بي بي (د مؤلف والده) ۱۳۳۱
حکیم د فیروز زوے ۲٦۲. ۲٦۹.
حکیم خان (د خوشحال خان ختک تره)
۲۱۹.
حکیم خان (؟) ۲۴۴. ۲۴٦. ۳۴۱. ۴۱٦.
حکیم مرزا، محمد حکیم مرزا (د اکبر
بادشاه ورور) ۲۰۹.
۲۲٦.
حکیمے (د مرزا زوے) ۲۹۲.
حمدالله مستوفي ۲۱ ۴۲.
حمزهٔ (امیر) ۳۲. ۳۵.
حمزه خان، همزه یوسفزے ۲۳۵. ۲۷۸.
۲۷۹. ۲۸۱. ۲۸۵ ۳۲۷. ۳۲۹. ۳۳۱.
۳۴۰. ۴۰۱. ۴۱۴. ۴۱۵.
حمزه بیګ ۲۱۳
حمزه کاکړ (شیخ) ۱۲۸۷ ۱۲۹۹
حمید (د غرهٔ د یوسفزیو ملک) ۲۳۷
حمید الدین حجاب (قاضي) ۸۰.
حمید الدین ناګوري (شیخ) ۴۲۳.
حمید الله (د رستم زوے) ۳۴۵.
حمید خان ۴۸. ۴۹. ۵۰. ۵۱.
حوا ۱۱ ۱۲
حوري برلاس ۱۱۰
حیات خان ۲۴۸.
حیات خان (د حضرت شیخ رحمکارؒ ورور)
۱۳۹۱
حیات سلطان ۳۳۲.
حیدرؓ وګورئ عليؓ.

خ

خاتم، خاتم النبیین وګورئ محمد ﷺ
خالدؓ (حضرت سیف الله) ۱۱ ۳۱. ۳۲.
۳۳. ۳۴. ۳۵. ۳٦. ۳۷. ۳۸. ۳۹. ۴۰.
۴۱. ۴۲. ۴۳. ۴۷. ۴٦٦.
خالد خان (د خوشحال خان ختک زوے)
۲۲۰. ۲٦۴. ۳۲۹. ۳۵۰. ۳۵۱. ۳٦.
۴۰۱. ۴۰۲.

خان جهان (لودي، د سلطان بهلول لودي امير) ۵۵. ۵۷.
خان جهان (لودي ، د سلطان بهلول د عهد د يو امير خان جهان زوی) ۵۷. ۵۸. ۵۹. ۶۱ ۶۲ ۶۳ ۸۰. ۸۲.
خان جهان بهادر (د اورنگ زيب د عهد يو امير) ۳۹۹.
خان جهان حسن قلي خان ۱۶۸
خان بهادر شنواری ۴۱۴.
خان جهان لودي، فرزند خان (د عهد جهانگيري او د عهد شاه جهاني يو امير او د تاريخ خان جهاني ، مخزن افغاني د مؤلفانو مربي) ۱۶۹ ۱۷۰ ۱۷۱ ۱۷۲ ۱۷۳ ۱۳۰۴ ۱۳۰۵ ۱۳۰۶ ۴۲۵.
خان خانان وگورئ بهلول.
خان خانان ۶۳
خان خانان ۱۷۴
خان خانان (د ملو خان له لوريه د رنتمبور د كوټ واكمن) ۱۴۸
خان خانان فرملي ۵۹. ۶۰ ۶۵
خان خانان لوحاني ۵۹. ۶۱ ۶۵
خان خانان منعم خان (عالمگير شاهي) ۳۱۰. ۳۱۲. ۳۱۶.
خان خانان يوسف خيل ۱۰۶ ۱۱۴ ۱۲۱
خان دوران ۲۱۵. ۲۲۵.
خان زمان ۱۷۰ ۱۷۱.
خان زمان (د داراب زوی) ۴۰۴.
خان زمان لوهانی (يا لوحانی) ۴۱۲.
خان زمان لوحاني ۲۹۷.
خان صديق (يا صديق. د مؤلف يو معاصر) ۳۹۱.
خان عالم ۱۶۹
خان عليين مكان وگورئ خوشحال خان.
خان كجو ۲۰۲. ۲۰۹. ۴۵۲.
خان كتي خيل ۲۴۳.
خان ملک ۴۱۲.
خانو (ملک) ۴۴.
خانو (د يحيیٰ خان خټک ارتينه) ۲۱۹.
خجسته اختر (جهان شاه) ۳۰۹. ۳۳۵.
خجواني (ميرزا) ۲۴۸.
خدايار (خټک) ۲۲۱. ۲۲۲.
خدايار (خليل) ۲۳۵.
خدری ببر ۲۱۴.
خدكی سلطان ۳۳۱.
خدمت پرست خان مير آتش ۱۷۱
خدو ناغر (شيخ) ۱۲۸۷ ۱۲۸۸
خرشبون ۱۹۱ (چې اخوند درويزه ئې شيربون بولي) ۴۴۹. ۴۵۱. ۴۵۲. ۴۵۳. او اولاد ئې ۱۹۶ تر ۱۹۸ او ۴۵۱ ۴۵۳.
خسرو سلطان ۱۸۰
خسرو ملک ۴۶.
خښبی شيخا ۱۹۶ ۴۵۱. ۴۵۲. (او اولاد ئې يوسف،مندڼ اوغيره) ۱۹۷ ۱۹۸ ۴۵۲.
خضر (حضرت خواجه) ۴۷. ۴۲۲. ۴۲۵. ۴۲۶. ۴۵۲. ۱۲۹۹
خضر (د شهباز ولد ابوالفرح زوی) ۴۶۰.
خضر بيتني (ملا) ۱۲۷۲ ۱۲۷۸

خضر بیگ وګورئ خضر خان (زوی د ملک اکوړ ختک).
خضر خان (سید) ۴۷.
خضر خان (د محمد خان ورور) ۱۳۵.
خضر خان (د سلیمان سرواني ورور) ۶۳ ۱۶۴
خضر خان (د محمد خان زوی) ۱۶۳
خضر خان، بیګ (د ملک اکوړ ملک زوی) ۲۱۵. ۲۱۹. ۲۲۲.
خضر خان پني ۱۷۳
خضر خان سرک ۱۲۷
خضر سرواني (شیخ) ۱۲۷۲
خضر کاکړ (خواجه) ۱۲۸۷
خطاب ۱۱ ۳۸.
خلیل (د غوري زوی، او د خلیل قبیلې مورث) ۱۹۷ ۴۵۱. ۴۵۲.
خلیل (د شهباز خان خلف) ۳۴۸.
خلیل اکوړ خیل ۴۰۴.
خلیل بیټنی (شیخ) ۱۲۷۲ ۱۲۷۶
خلیل حسن خیل ۳۵۸.
خلیل الرحمان وګورئ ابراهیم.
خلیل الله وګورئ ابراهیم.
خلیل الله خان، خلیل خان ۱۸۹. ۱۹۰ ۲۴۷. ۲۸۸.
خنجر ۲۶۴.
خنجر د غني ۳۸۱.
خنوخ ۱۶
خواجه ترکمان ۴۲۳.
خواجه دولت ۲۱۲.
خواجه عثمان (زوی د عیسی خان لوحاني) ۱۶۸
خواجه عرب ۱۲
خواجه سلیمان (زوی د عیسی خان لوحاني) ۱۶۸
خواجه کلان ۲۰۷.
خواجه محمد میر خیل (ملا) ۱۲۲۹
خواص خان (حاکم د ماچهیواړی) ۶۴.
خواص خان (تعیناتي ئې په حکومت د بیانې) ۶۵
خواص خان ۱۰۶ ۱۰۷
خواص خان ۱۲۹ ۱۳۴
خواص خان (د سکها خاص خیل زوی) ۹۵
خواص خان ۲۴۸.
خواص خان توغی ۲۷۲.
خواص خان پنړي ۱۷۱
خواص خان صاحب خان ۱۰۸. ۱۱۴ ۱۱۵ ۱۱۷ ۱۱۹ ۱۲۰. ۱۲۲ ۱۲۳ ۱۲۴ ۱۲۶ ۱۳۳ ۱۳۴ ۱۳۹ ۱۴۰ ۱۴۳ ۱۴۴ ۱۴۵ ۱۴۷ ۱۴۸ ۱۴۹ ۱۵۱. ۱۵۴
خواص خان کلان ۱۰۸.
خوشحال خان ختک، خان علیین مکان، لوئی خان، ۱۷۴. ۱۷۵. ۱۷۶ ۱۷۶. ۱۷۷. ۱۸۴ ۱۹۱ ۲۱۷. ۲۱۹. ۲۲۰. ۲۲۱. ۲۲۸. ۲۲۹. ۲۳۰. ۲۳۱. ۲۳۲. ۲۳۳ ۲۳۴. ۲۳۵. ۲۳۶. ۲۳۸. ۲۳۹. ۲۴۰. ۲۴۱. ۲۴۲. ۲۴۳. ۲۴۴. ۲۴۵. ۲۴۶. ۲۴۷. ۲۴۸. ۲۴۹. ۲۵۰. ۲۵۱. ۲۵۲. ۲۵۳. ۲۵۴. ۲۵۵. ۲۵۷. ۲۵۸. ۲۵۹. ۲۸۱. ۲۸۴. ۲۸۵. ۲۸۶. ۲۸۷. ۲۸۸.

۲۸۹. ۲۹۰. ۲۹۱. ۳۴۰. ۳۴۴. ۳۹۸.
۴۰۱. ۴۰۲. ۴۰۷. ۴۰۸. ۴۰۹. ۴۱۰.
۴۱۱. ۴۱۲. ۴۱۳. ۴۱۴. ۴۱۵. ۴۱۷.
۴۱۸. ۴۱۹. ۴۲۰. ۴۲۱. ۱۳۳۰
۱۳۳۱ ۱۳۵۰ ۱۴۰۰ ۱۴۰۷ ۱۴۰۸
۱۴۱ ۴۶۶.
خیر الدین (د بایزید اورمړ زوے) ۴۵۹.
خیر قلي خان ۳۶۷.
خیرو (د ملک یوسف زوے) ۴۵۹.

د

ابشلیم ۴۴.
داد ۲۶۶.
دادي (دادي خیل لـه اولاده د ابوسعید) ۴۵۹.
داراب (د خان زمان پلار) ۴۰۴.
داراشکوه، داراشاه (بادشاه زاده، د شاه جهان مشر زوے) ۱۷۷. ۱۸۹ ۱۹۰ ۱۹۱ ۱۹۲ ۲۱۷.
:ان ۱۶
:اندو (رانۍ) ۵۷. ۵۸.
:اني (د غور غشتي زوے) ۴۶۰.
:انیال (مهتر) ۳۱.
:اؤد ۲۲.۳ ۲۴. ۲۵ ۳۱.
:اؤد (ملک) ۴۴.
:اؤد (ثاني یوسف د سلیمان کرلاني زوے) ۱۶۷ ۱۶۸
:اؤد (یا داود خان د مؤلف یو معاصر) ۳۹۱.
.اؤد اوحدي ۴۹.
.اؤد خان ۸۳. ۸۴.
داؤد خان ۱۷۳
داوي (د داني زوے) ۴۶۰.
دائم محمد نبوري ۱۲۵
دجال ۴.
د رګاوتي (د ګوندواني رانی) ۱۶۴
درویزه (آفریدے) ۴۱۴. ۴۱۵.
درویزه د پاپین و ګورئ اخون درویزه
درویش محمد عرف چنجو ۲۱۷. ۲۲۴. ۲۲۵.
دریا خان (زوے د مبارک خان) ۶۳
دریا خان ؟ ۲۴۰.
دریا خان (آفریدے) ۲۶۱ ۲۶۲ ۲۶۸. ۲۷۱ ۲۷۵ ۲۷۶. ۲۷۷. ۲۷۹. ۲۸۰. ۲۸۱ ۲۸۳ ۲۸۴. ۴۱۴. ۴۱۵.
دریا خان (داؤدزے د بهادر خان او دلیر خان اوغیره پلار) ۱۷۲ ۱۷۳ ۱۷۴ ۱۹۳
دریا خان (چې په نامه ئې دریا خان کلے یاد شوے دے) ۳۴۹. ۳۵۵. ۳۵۹.
دریا خان (حاجي) ۱۳۴۴ ۱۳۴۶
دریا خان درملک ۲۶۶
دریا خان سرواني ۶۳
دریا خان لوحاني (حاکم د بهار) محمد شاه، سلطان محمد) ۸۱. ۸۲. ۹۳. ۹۴. ۹۵. ۹۸. ۱۰۲
دریا خان لودي ۴۹.
دلاور خان ۸۳.
دلاور خان سارنګخاني ۸۱.
دلاور خان ګکهر ۳۴۲.
دلدار ګل ۳۶۲. ۳۷۱. ۳۷۲. ۳۸۶.
دلو چغرزے ۲۰۰.

دلیـر خان، جلال خان داؤدزے (د بهادر خان داؤدزي ورور) ۱۹۰ ۱۹۲ ۱۹۳ ۱۹۴ ۳۰۶.

دلیـر همـت (د بهـادر خـان داؤدزي زوے) ۱۸۷ ۱۸۸ ۱۹۲ ۲۳۵.

دوران ۳۴۸.

دوست محمد (یوسف زے) ۲۸۵.

دولت بیگ کاکشال ۱۷۷ ۱۸۳

دولـت خـان (د سـلطان ابراهیم لودي ورور) ۷۳.

دولت خان (د بدهو زوے) ۹۱. ۹۲.

دولت خان وگورئ اجیالا.

دولـت خان (کهتېر، د خوشحال خان ختـک خسر) ۲۲۰.

دولت خان بیتنے ۱۹۶

دولت خان لوحاني ۱۶۰

دولت خان لودي ۹۱. ۹۲.

دویـه بـي بي (لور د شیخ سلیمان دانا او خور د شیخ مهلي قتال) ۴۶۰.

دهرم چند ۲۱۲.

دیان ۲۰.

ډ

ډنگر پیر ۲۸۵.

ډونگر (رائے ، حسین خان نو مسلم) ۷۹

ډونگـر [راجـا (کیدے شي چې د ډونگر پور راجه ترې مراد وي)] ۱۰۲.

ذ

ذوالعین ۲۵.

ذوالفقار خان ۳۳۷.

ذوالنون ارغون ۱۹۹ ۲۰۹.

ذوالنون ولد بادے ۱۴۳۰

ذي الکفل وگورئ حزقیل.

ر

راجا روپ ۱۷۸

راجو بخاري (شیخ) ۸۱.

راجي (بي بي) ۵۲. ۵۳. ۵۴. ۶

راخیل ۱۴. ۱۵ ۱۶

راز عليؒ (افریدے) ۲۷۸.

رازملي ۲۶۱.

رامچند (راجا، حاکم د پتنې) ۱۶۲

رام سـنـگهـ (راجـا) ۲۸۹. ۴۰۷. ۴۱۱. ۴۱۲.

راول فقیر ۱۴۳۵ ۱۴۳۸.

رائـي (د یـحیيٰ خان ختـک ارتبنه. ام الولده) ۲۱۹.

رائے حسین جلواني ۱۲۲ ۱۲۷

رائے ډونگـر، وگورئ ډونگر، رائے، حسین خان نو مسلم.

رتناوتي ۱۳۲

رحـمـکـار قـدس سـره العـزیـز، شیخ، شیخ بـزرگـوار، شیـخ جیـو ۱۸۶ ۲۲۳. ۲۴۷. ۳۲۶. ۳۲۸. ۳۳۸. ۳۴۵. ۳۵۰. ۳۶۸. ۳۷۱. ۳۸۵. ۳۸۹. ۳۹۱. ۴۰۲. ۴۰۸. ۱۳۳۲. ۱۳۳۵. ۱۳۳۶ ۱۳۴۴. ۱۳۵۰. ۱۴۰۰ ۱۴۰۳. ۱۴۱۸ ۱۴۱۹.

رحمت خان ۲۳۹.

رحمت خان ۳۲۹.

رخې ۳۲۹.

رستم (د سمو زوے) وگورئ شاه رستم.

رستم (شاه) وگورئ شاه رستم.

رستم د خضر زوی ۴۶۰.
رستم ۳۲۹.
رستم (د حمید الله پلار یا مسکن) ۳۴۵. وګورئ حمید الله هم.
رستم خان ۱۸۱
رستم خان (سمو ګړهـ کښې د بادشاهي فوځونو سالار) ۱۸۹
رستم خان (د بنادي خان) ۴۱۶.
رستم دل خان ۳۳۶.
رسول (زوی د ملک اصغر) ۲۱۳. ۲۱۴.
رسول عثماني خیل (ملک) ۲۷۸.
رشید (د خلوزیو مورث) ۲۲۴
رضا بهادر ۱۷۲
رضا ډنګرزی جلبي وال ۳۴۱.
رفیع الدرجات ۳۴۷.
رفیع الدین (میر سید) ۱۲۴
رفیع الشان، قدر (د بهادر شاه زوی) ۲۹۶. ۳۰۷. ۳۰۸. ۳۰۹. ۳۱۰. ۳۱۳. ۳۱۶. ۳۱۷. ۳۱۸. ۳۲۴. ۳۳۵. ۳۳۷. ۳۴۰.
رکن الدین شیر خان (شیخ) ۱۷۲
رمان ۴۲.
روپ متي پاتري ۱۶۴
روشن خان (زوم د سردار خان) ۱۷۱
روم (چې د عیص زوی یاد شوی دی) ۱۴
روئیل (د حضرت یعقوب زوی) ۱۶
روئیل (د یهودا زوی) ۴۳.

ز

زاهد (شیخ) ۶۴
زاهد خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۱.
زبردست خان (د ابراهیم خان زوی) ۳۲۱.
زبیده. ۳۶۲.
زربی (یا زربي خیل له اولاده د کاکړ) ۴۶۰.
زرین فتح خیل ۲۶۱.
زکو (زکوزی، د خضر زوی) ۴۶۰.
زلغوزی (د کاکړ زوی) ۴۶۰.
زلفه ۱۶
زمانی (امازی) ۳۷۸.
زمانی موشک ۲۶۷.
زمند، وګورئ خمند.
زنکي دلازاک ۲۰۱
زین الدین (پیر چې په نامه ئې زین الدین کلی هم یاد شوی دی) ۳۸۴. ۳۸۵. ۳۹۷.
زین العابدین (امام) ۲۱۷. ۴۶۱. ۴۶۴. ۴۶۵.
زین خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۱.
زین خان کوکه ۲۰۵. ۲۰۶.
زینل بیک ۱۶۹
زینو ۲۴۸ وګورئ زینو ډنګرزی هم.
زینو ۲۶۳
زینو ډنګرزی ۲۶۳

ځ

خدران ۲۱۸.
خمند، زمند ۱۹۶ ۴۵۱. ۴۵۲.

س

سادهم ۳۹۶.
سادهو رام (سیتهه، د مؤلف وکیل) ۳۴۳.
سارنګ خان ۸۶.
سارنګ ګکهړ (رای) ۱۲۶

ساروغ ۱۳ ۴۳.
سارول، وګورئ طالوتؑ.
سارهؓ. ۱۳
ساقي بيک (د خوشحال خان خټک د تره
آدم خان زوی) ۲۲۲. ۲۳۰.
سالار (سالار خيل له اولاده د تغرق) ۴۶۰.
سالباهن (زوی د راجه بهيد). ۶۲ ۶۳
سام (ابوالانبيا د حضرت نوح فرزند) ۱۳
۴۳. ۴۵۴. ۴۵۵.
سام (غوري) ۴۵. ۴۵۴.
سانګا (رانا) ۱۰۲
سباک (پير) ۱۳۲۹
۱۴۰۴
سباکه (د لقمان عرف خټک ارتينه) ۱۸
سبکتګين ۴۵.
سپهدار خان (عزالدوله) ۳۴۰.
۳۴۲.
سپهر شکوه (د شاه جهان بادشاه د مشر زوي
دارا شکوه زوی) ۱۸۹ ۱۹۰ ۱۹۱
ستانی (د الياس زوی) ۴۶۰.
سجاول خان. وګورئ اسماعيل سور
سجن ۱۷۱
سدو (سدوزی له اولاده د سور) ۴۵۹.
سربال (زوی د سرواني) ۴۵۹.
سربلند خان ۲۸۱. ۳۵۰. ۳۵۳. ۳۵۴.
۳۵۸. ۳۵۹. ۳۶۰.
سردار (د عبدالرحمان) ۳۳۰.
سردار خان ۱۷۰ ۱۷۱
سردار خان (توراني امرا) ۳۱۱.
سردهي خټک ۱۳۳۱ ۱۳۳۲
سرفراز (د مؤلف د نيايه زوی) ۳۲۱. ۳۲۲.
سرفراز ګل، سرفراز ۳۶۸. ۳۶۹. ۳۷۲.
۳۷۴. ۳۷۹. ۳۸۰. ۳۸۶. ۳۸۸. ۳۹۰.
۳۹۱. ۳۹۲. ۳۹۳.
سرک (زوی د پرنګي) ۴۵۹.
سرګړی (زوی د کاکړ) ۴۵۹.
سرمرد (زوی د ابوالفرح) ۴۶۰.
سرمست (پير) ۲۸۵.
سرمست خان سړبنی ۱۱۶
۱۶۰
سروانی (زوی د بي بي متو له شاه حسين
غوري) ۴۵۹. ۴۶۰.
سرور خيني (ملک) ۲۸۱
سرورؐ کائنات وګورئ محمدﷺ.
سروغ ۱۳ ۴۳.
سړبن، سړبنی ۴۴. ۱۲۷۴
او اولاد ئې ۴۴۹ نه تر ۴۵۳.
سعادت خان (د خوشحال خان خټک زوی)
۲۲۰. ۲۲۴. ۲۴۸. ۲۵۱ ۲۵۷. ۲۷۴
۴۱۱.
سعدالله خان ۲۴۷. ۱۳۰۸
سعد وقاص (يعني سعدؓ بن ابي وقاص) ۴۲.
سعدي شيرازي ۸۵. ۸۸. ۹۴ ۱۱۶
۱۲۳ ۱۳۳ ۱۳۶
سعيد خان ۷۳.
سعيد خان ۱۳۰

سعید خان (زوی د مبارک خان) ۴۷.
سعید خان، محمد سعید خان (د مؤلف فرزند) ۳۱۷. ۳۴۳. ۳۴۶. ۳۴۷.
سعید خان بهادر (د شاه جهاني عهد یو لوئی امیر) ۱۷۵ ۱۸۵ ۲۱۶. ۲۱۶. ۴۶۳.
سعید خاني سرواني ۶۵
سعید خان کوهاټي ۲۷۲.
سعید خان ګکپور (د عیسی خان حجاب زوم) ۱۳۵
سعید خان ورکزی ۳۴۸. ۳۵۶. ۳۵۸. ۳۵۹. ۳۶۰. ۳۷۴. ۳۷۵.
سعید فرملي (شیخ) ۸۰.
سکندر (د عالم خان ورور) ۵۲.
سکندر (یوناني) ۷۴. وګورئ اسکندر هم.
سکندر (د بي بي فتحي عزیز او زوم) ۱۰۵
سکندر (د شاه محمد فرملي زوی) ۱۶۰
سکندر (سلطان) وګورئ احمد خان سور
سکندر (عادل شاه) ۱۷۳
سکندر خان (د ملک آدم کاکړ زوی) ۸۱.
سکندر خان (د نصیر خان ورور) ۱۲۸
سکندر خان (د مغلو یو فوځي افسر) ۱۶۲
سکندر خان (د خوشحال خان خټک زوی) ۲۲۱. ۲۷۷. ۲۸۹. ۲۹۳. ۳۲۹. ۳۹۸.
سکندر سور ۱۶
سکندر لودي (سلطان، نظام خان) ۱۱ ۴۷. ۵۹. ۶۰ ۶۱ ۶۳ ۶۴ ۶۵ ۶۶ ۶۷ ۶۸ ۶۹ ۷۰. ۷۱. ۷۴. ۷۵. ۷۶. ۷۷. ۷۸. ۷۹. ۸۶. ۹۱ ۱۰۲
۱۱۶ ۱۱۸ ۱۳۶ ۱۴۵ ۱۲۸۵ ۱۲۹۶. ۱۲۹۸. ۴۶۶.
سکندر میانی ۱۲۱
سکها خاص خیل ۹۵. ۱۵۹
سلطان احمد جلواني ۶۰
سلطان احمد مهمند (ملک) ۲۰۳.
سلطان اشرف ۶۰
سلطان جنید (د میر خلیفه ورور) ۹۵. ۹۶
سلطان شاه (د یوسف منډړ ملک) ۲۰۰.
سلطان شاه لودي اسلام خان ۴۷. ۴۸. ۵۸.
سلطان محمد (د سلطان ناصر الدین مالوي خلجي نمسی) ۷۴.
سلطان محمد (شیخ زاده، زوی د شیخ سعید فرملي) ۷۱ (۱). ۷۳. ۸۰. ۸۱.
سلطان محمود (حاکم د بنګالې) ۱۱۱
سلطان محمود لودي ۱۱۱ نوټ۵. هم وګورئ.
سلیم ۴۳.
سلیم (مرزا) ۲۰۹.
سلیم (ملک) ۲۹۲. ۲۹۳.
سلیمان ۳. ۹ ۲۲. ۲۹. ۳۰. ۳۱. ۳۳۵.
سلیمان (چې په نامه ئې غر یاد شوی دی) ۱۶ ۴۵. ۴۲۵. ۴۲۸. ۱۲۸۲.
سلیمان (د دریا خان سرواني زوی) ۶۳
سلیمان (د خان خانان فرملي زوی) ۶۵ ۶۷ ۶۹
سلیمان (د اوړیسې حاکم) ۱۶۲
سلیمان (د شیر شاه ورور) ۸۶. ۸۹.

۹۲. ۹۳. ۹۴. ۹۵. ۹۶. ۴۵۸.
سلیمان (د تاج کرلاني ورور) ۱۶۵ ۱۶۶ ۱
۱۶۷
سلیمان (ملک) ۲۶۴. ۲۶۶. ۲۷۲.
سلیمان (وګورئ خواجه سلیمان)
سلیم چشتي (شیخ) ۱۴۸ ۱۴۹
سلیم خان کاکړ ۱۶۵ ۱۶۶.
سماء الدین (قطب الاقطاب حضرت شیخ)
۷۱. ۷۶.
سمو (د پهو زوی) ۴۵۹.
سنجر (د تغرق زوی) ۴۶۰.
سنجر (د خضر زوی) ۴۶۰.
سنش ۴۰. ۴۱.
سنکت (د ګکپور زوی) ۴۶۰.
سنګر (یوسفزی) ۲۸۵.
سوتې (د سرواني زوی) ۴۵۹.
سودن (د تغرق زوی) ۴۶۰.
سور (د سرک زوی) ۴۵۹.
سوري (د سرپال زوی) ۴۶۰.
سهراب (میرزا) ۲۵۲.
سید احمد وګورئ احمد.
سیداني ۱۲۸۸ ۱۲۸۹
سیداني پائي (شیخ) ۴۲۲. ۴۳۰.
سید خان (د بهاګو خان ورور) ۱۹۱. ۲۳۳.
سید د بوړي ۲۶۵. ۲۶۹.
سیرا (د کاکړ زوی) ۴۶۰.
سیري ۱۶
سیف الله خان، سیف خان (د مؤلف فرزند)
۳۲۰. ۳۲۹. ۳۴۱.
سیف خان آچا خیل سرواني ۱۱۲.
سیف خان امرا ۲۸۹.
سیوا ۱۹۴

ش

شاکر خان (د خوشحال خان ختک زوی)
۲۲۱.
شالی فتح خیل ۲۶۹.
شاملي افریدی ۱۷۲.
شاه بختیار ۳۲۲. ۱۲۶۷
شاه بیک ۲۲۵
شاه بیک بنګښ ۲۶۷. ۲۷۲
شاه بیک ورکزی ۲۴۶
شاهجهان (بادشاه) خرم. خورم ۲. ۸.
۱۶۹ ۱۷۰ ۱۷۱ ۱۷۲ ۱۷۳ ۱۷۴
۱۸۱ ۱۸۴ ۱۸۵ ۱۸۶ ۱۸۹ ۱۹۰
۱۹۶ ۲۱۶ ۲۱۷ ۲۳۳. ۲۳۷. ۲۴۴
۲۵۱. ۲۵۸. ۲۸۱ ۴۱۹.
۱۴۱۸
شاهد الدین ۲۹۷.
شاه رستم یا رستم (د سمو زوی) ۴۵۹.
شاه سکندر (زوی د شیخ احمد زنده پیر
۴۶۰.
شاه قلي خان ۱۶۳
شاه کلیم کتي خیل ۲۶۹. ۳۰
شاه ګدا وګورئ ګدا.
شاه محمد فرملي ۱۴۲ ۱۴۸ ۱۴۹
۱۵۰ ۱۵۲ ۱۶۰ ۱۶۱

شاه مراد خېنے ۲۹۲. ۳۲۸.
شاه منصور (زوے د ملک سلیمان یوسفزي) ۲۰۶. ۲۰۸.
شاه نواز خان (د داراشاه نیوي) ۱۹۲
شاه نواز خان (گرجي) وگورئ شهنواز خان.
شاهو (ملک) د سلطان بهلول لودي مورث) ۴۵۹.
شاهي (شیخ) ۱۴۰۶
شاهي بیگ مکهډي ۴۱۶.
شاهي سینے ۳۶۶.
شاهي موشک ۲۶۷. ۲۷۴. ۲۷۵. ۲۷۶.
شانسته ۳۴۸.
شجاع، شاه شجاع (د شاهجهان بادشاه زوے) ۱۸۹ ۱۹۰ ۱۹۱ ۱۹۳ ۲۵۰. ۲۷۹. (؟)
شجاع امازے ۳۷۸.
شجاعت خان وگورئ اسماعیل سور
شجاعت خان (د اورنگ زیب بادشاه یو جرنیل) ۲۷۴. ۲۷۵.
شجر ۱۲
شدني (حاجي حسام خان) ۴۷. ۴۸.
شرحبیل بن حسنه ۳۶.
شرف الدین یحیي منیريؒ (شیخ) ۶۳ ۴۲۸. ۴۲۹.
شریف خان (د خوشحال خان ختک ترهٔ) ۲۱۹
شریف زرین خیل ۳۲۲.
شکر الله خان (د خوشحال ختک زوے) ۲۲۱.
شلم ۴۲.
شمس (د ملک اصغر زوے) ۲۱۳.
شمس الدین (خواجه) ۲۱۱.
شمس الدین (د کیوي زوے) ۲۶۱.
شمس الدین (د حافظ امین پلار) ۳۶۹.
شمس الدین (سلطان، بادشاه د دهلي) ۴۲۳.
شمس الدین خان ۱۹۵
شمس الدین محمد غزنوي ۱۲۰
شمس خاتونه (خور د قطب خان او بي بي د سلطان بهلول لودي) ۵۳.
شمس خان ۶۴
شمس خان ۱۲۹
شمشیر (ملک) ۹۳
شمشیر (د قابل) ۳۴۳.
شمشیر بیگ ۲۴۵.
شمشیر حسن خیل (ملک) ۱۴۲۶
شمشیر خان (د خواص خان ورور) ۱۳۴
شمشیر خان، د سکها زوے (د عدلي وزیر) ۱۵۹
شمشیر خان (د خوشحال خان ورور) ۲۲۰. ۲۳۱. ۲۳۵. ۲۴۸. ۲۴۹.
شمشیر خان (د شیخ میر زوے) ۲۸۰.
شمشیر خان ترین، حیات خان ۱۸۲ ۲۵۲. ۲۵۳. ۱۳۹۴ ۱۳۹۵ ۱۳۹۶
شمشیر ډنگرزے ۴۱۶.
شمعون (د حضرت یعقوب فرزند) ۱۲

شمعون (زوی د کیوي) ۴۶۱.

شهاب الدین (غوري، سلطان، معز الدین محمد بن سام) ۳۱. ۴۵. ۴۶. ۴۵۴.

شهاب الدین (زوی د ناصر الدین بادشاه مالوه) ۶۸

شهاب الدین (قاضي، د دولت آباد) ۸۷.

شهاب الدین (شیخ، د پیر سباک زوی) ۱۴۰۲

شهامت خان ۲۸۹. ۴۰۷.

شهباز (زوی د ابوالفرح) ۴۶۰.

شهباز (د سوري ولد سربال یا سرپال زوی) ۴۶۰.

شهباز (شیخ، چې په نامه ئې کلی یاد شوی دی) ۳۶۹.

شهباز خان (د یوسف خان اچا خیل زوی) ۱۳۲

شهباز خان (د خوشحال خان ختک پلار) ۱۶۷ ۲۱۷. ۲۱۹. ۲۲۰. ۲۲۷. ۲۲۸. ۲۲۹. ۲۳۰. ۲۳۱. ۲۳۲. ۲۳۶. ۲۳۷. ۱۳۵۲. ۱۳۵۳. ۱۳۸۷. ۱۳۹۱. ۱۳۹۲. ۱۳۹۳. ۱۴۱۸.

شهباز خان، باز خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۰. ۲۶۴. ۲۶۶. ۲۷۷. ۳۳۸. ۳۴۸.

شهباز خان (مکرر، د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۰.

شهباز (د مهابت کمالزي پلار) ۳۴۳.

شهباز قلندر ۲۰۸.

شهباز قلندر (حضرت) ۱۲۸۰.

شهباز نون یال (د خوشحال خان ختک د خسر دولت خان کهتړ نیکهٔ) ۲۲۰.

شهنواز خان گرجي، شاهنواز خان ۳۳۳

شهنواز خان (د خالد خان) ۳۶۱.

شیث ۱۲ ۱۳ ۲۰. ۴۳.

شیخ. (شیخ زی، له اولاده د اسحاق) ۴۵۹.

شیخا و گوری خښی

شیخ خواجه (د شیخ احمد زنده پیر زوی) ۴۶۰.

شیخ ملي ۲۰۱.

شیخ میر ۲۵۰.

شیر (د عابد خان زوی) ۳۲۸.

شیربون و گوری خرشبون.

شیر خان سوریا خیل ۲۲۴.

شیر خان. شیر محمد بنګښ. ۲۴۸. ۲۴۹. ۲۷۴. ۲۷۵. ۲۷۶. ۲۸۰. ۲۸۷. ۲۹۱. ۲۹۲. ۴۰۵.

شیر شاه، شیر خان، فرید، حضرت اعلیٰ ۱۱. ۷۹. ۸۶. ۸۷. ۸۸. ۸۹. ۹۰. ۹۱. ۹۲. ۹۳. ۹۴. ۹۵. ۹۶. ۹۷. ۹۸. ۹۹. ۱۰۲ ۱۰۳. ۱۰۴. ۱۰۵. ۱۰۶ ۱۰۸. ۱۰۹ ۱۱۲ ۱۱۴. ۱۱۵ ۱۱۶. ۱۱۷. ۱۱۸. ۱۲۰. ۱۲۱. ۱۲۲. ۱۲۳. ۱۲۴. ۱۲۶. ۱۲۷ ۱۲۸. ۱۲۹ ۱۳۰. ۱۳۲. ۱۳۳. ۱۳۴. ۱۳۵ ۱۳۶. ۱۳۸. ۱۴۰ ۱۴۱. ۱۴۲

ښ

ښادمان خان (د خوشحال خان خټک زوی) ۲۲۱

ښادوه ښادوګی افریدی ۲۶۲. ۲۶۴. ۲۶۵

ښادي (د فیروز زوی) ۲۵۹. ۲۶۲. ۲۶۹.

ښادي خاص خیل ۹۴ ۹۵.

ښادي خان ۱۷۷

ښادي خان (د شیر شاه ورور) ۸۶.

ښادي خان (د خوشحال خان خټک تره) ۲۱۹ ۲۴۴ ۲۴۷. ۲۴۸ ۲۴۹. ۴۱۶.

ښادي خان ازبک ۱۷۱

ښادي کټي خیل (ملک) ۲۲۷ ۲۲۸.

ښادي کمالزی ۲۴۲.

ص

صاحب ببر ۲۶۶.

صاحب خان وګورئ خواص خان.

صاحب خان (د بوچه خان زوی او د خوشحال خان خټک خسر) ۲۲۰

صاحب موشک، میشک. ۲۶۹. ۴۱۳.

صاحب ولي ۲۶۱.

صادق بدخشي (خواجه) ۲۳۵.

صالح ۱۳

صالح عاقل ۲۱۱.

صالح محمد (د کمال خان) ۳۲۹.

صالح محمد حسن خیل ۴۱۶.

صدر الدین (د خواجه یحیٰی بختیار زوی) ۴۲۹. ۱۲۷۹

صدرجهان سرواني (شیخ) ۱۲۷۲ ۱۲۸۴

صدرجهان (د شیخ احمد زنده پیر زوی) ۴۶۰.

صدرخان، صدر (د خوشحال خان خټک زوی) ۲۲۰. ۲۲۱. ۲۶۵ ۲۷۰ ۲۷۷. ۲۷۹ ۲۸۱ ۳۲۰. ۳۲۲. ۳۲۵. ۳۳۰. ۳۴۸. ۳۵۰. ۳۵۵. ۳۶۱. ۴۰۱. ۴۰۲. ۴۱۸. ۴۲۰.

صدر خان خرسین ۱۲۸

صدیق مهمند زی (د چارسدې ملک) ۳۲۴. ۳۳۰.

صفدر خان ۶۵

صفي وګورئ آدم.

صفي (شاه، د ایران) ۱۷۷

صلاح ۴۲.

صهیب ۴۲.

ض

ضحاک ۱

ضیاد ۱۶

ضیاء الدین (د حضرت شیخ رحمکارؒ فرزند) ۲۵۸ ۲۵۹. ۲۶۲. ۲۶۷. ۲۶۹. ۲۷۰. ۱۴۰۲ ۱۴۲۵

ط

طالوتؒ، سارول ۱۱ ۱۶ ۲۱. ۲۲. ۲۳ ۲۴. ۲۵. ۲۶. ۲۸. ۲۹. ۴۲. ۴۳. ۴۴۹.

طاوسے ۳۹۳. ۳۹۷.
طاهر (سید) ۱۲۸.
طاهر خان (د خوشحال خان ختک زوے)
۲۲۱. ۲۹۲. ۴۱۷.
طاهر دکني (شاه) ۱۵۸.
طلل ۴۳.
طلیحه ۴۴.
طماش (شاه) ۱۵۹.
طوطا مهمندے ۲۶۱.

ظ

ظریف، شیخ ۱۷۶
ظریف (د سمې د یوسفزیو یو ملک) ۲۳۷.
۲۴۱.
ظفر خان ۱۷۲
ظفر خان (د خوشحال خان ختک زوے)
۲۲۰. ۳۲۹. ۳۸۲.
ظفر خان د مؤلف نیایهٔ ۴۱۰.
ظفر خان لوهانے ۴۱۲.

ع

عابد خان (د خوشحال خان ختک زوے)
۲۲۰. ۲۶۰. ۲۶۱. ۲۶۴. ۲۶۵. ۲۶۶.
۲۶۷. ۲۶۸. ۲۷۰. ۲۷۱. ۲۷۳. ۲۷۴.
۲۷۶. ۳۰۴. ۳۰۹. ۳۲۰. ۳۲۸. ۳۳۰.
۳۵۱. ۳۶۱. ۴۰۱. ۴۰۸. ۴۱۶. ۴۱۷.
۴۱۸.
عابر هود ۱۳.
عاد وګورئ عوج.
عادل خان، علاول خان (د شیر شاه مشر
زوے) ۱۱۰ ۱۲۲. ۱۲۳.
۱۳۲ ۱۳۴. ۱۳۵ ۱۳۶.
۱۳۹ ۱۴۰. ۱۴۱ ۱۴۲.
۱۴۵ ۱۴۶. ۱۴۷ ۱۴۸
۱۵۴ ۱۵۵. ۱۵۸. ۴۵۸ نوټ ۲.
عادل خان (د خوشحال خان ختک زوے)
۲۲۱.
عارف (ملک) ۴۴.
عارف اودل (شیخ) ۲۲. ۴۲۲. ۱۲۶۴ ۱
عاشور (ملک) ۳۸۵.
عاص وګورئ عمروٌ.
عالم خان (د سلطان سکندر لودي ورور)
۵۹.
عالم خان (د میرتهـ یو باغي چې خواص خان
ووژهٔ) ۱۳۴.
عالم خان (د یحیيٰ خان ختک زوے او د
خوشحال خان ختک ترهٔ) ۲۱۹. ۲۲۷.
عالم خان (د درویزه افریدي زوے) ۴۱۴.
۴۱۵.
عالم خان (له اولاده د انجا) ۴۵۹.
عالم خان افریدے ۳۱۱. ۳۱۳. ۳۵۹.
عالم خان لودي ۸۳. ۱۲۸.
عالم خان میانه ۱۴۹. ۱۵۰
عالم خان نیج بهیه یوسف خیل ۱۵۰.
عالم شیر ملک میرے ۳۴۳.
عالمګیر وګورئ اورنګزیب .
عالي حسن خیل (مرزا) ۲۳۰.
عامون (ملک) ۴۴.

امیل ۴۳.
باس (شاه، د ایران) ۱۶۹ . ۲۳۷.
باس(مورخ زوی د شیخ علي سرواني).
۱۱
باس خان سرواني (د شیر شاه د خور
بنتن) ۹۷.
باس گل، عباس ۳۶۸. ۳۸۴.
بدالجبار (د خلیل حسن خیل زوی) ۳۵۸.
بدالجلیل وگوری اسلام شاه.
بدالجلیل خاص خیل وگوری جلیل خاص
یل.
بدالحق (د صدر خان) ۳۶۱.
بدالحکیم (مولانا) ۱۳۰۸
بدالحلیم (میان، د حضرت شیخ رحمکارؒ
رزند) ۱۳۴۳ ۱۳۴۸ ۱۳۴۹ ۱۳۵۰
۱۳۵ ۱۳۹۷ ۱۳۹۸
بدالحئ (زوی د شیخ جمالي کنبو) ۱۲۸
بدالرحمان (د حضرت خالدؒ فرزند) ۴۲.
بدالرحمان ۲۷۰.
بدالرحمان (د حکیم خان) ۳۴۱.
بدالرحمان اوریا خیل ۲۶۰.
بدالرحمان بختیار (شاه) ۴۲۲.
۴۳.
بدالرحمان جمحي ۴۳.
بدالرحمان خان، عبدالرحمان (د خوشحال
ان ختک زوی) ۲۲۱. ۳۰۵؟ ۳۱۳؟
۳۲؟ ۳۲۹. ۳۳۰. ۳۹۸. ۴۱۶.
بدالرحیم (د عبدالرحمٰن) ۳۲۹.
عبدالرحیم (ناسید) ۳۲۹.
عبدالرحیم بیگ خان ۳۴۶. ۳۴۷. ۳۴۸.
عبدالرشید پټان وگوری قیس.
عبدالسلام عبدري ۳۲.
عبدالصمد خان، نواب ۱
عبدالعزیز خان ۱۶۹
عبدالعزیز خان (د نذر محمد خان زوی)
۱۸۱
عبدالعزیز خان (د خوشحال خان ختک
زوی) ۲۲۰.
عبدالغفور، غفور بیگ (د ملک اکوړ زوی)
۱۷۷ ۲۱۹. ۲۳۸. ۲۴۲. ۲۴۳ ۲۴۶
عبدالقادر روښاني (د احداد زوی) ۱۷۲
۲۱۴. ۲۱۶.
عبدالقادر خان، قادر خان بابادل، (د
خوشحال خان زوی) ۲۲۰ ۲۳۱ ۲۶۱
۲۶۴. ۲۶۶. ۲۷۱. ۲۷۳. ۲۷۴ ۲۷۷
۳۳۷. ۳۳۸. ۴۰۰. ۴۲۰.
عبدالکریم خانه زاد ۳۴۸. ۳۵۶.
عبدالله (زوی د حضرت خالدؒ) ۴۲.
عبدالله (د نامدار ورور؟) ۳۲۹.
عبدالله (حاجي، د کوهاټ) ۲۷۲.
عبدالله (اورمړ د پیر روښان پلار) ۲۰۲.
عبدالله (د عزت پلار) ۳۴۳.
عبدالله خان (د ماوراء النهر بادشاه) ۲۱۲.
عبدالله خان (د خوشحال خان ختک ترهٔ)
۲۱۹. ۲۳۸.
عبدالله خان (د خوشحال خان ختک زوی)

عبدالله خان ۳۲۹.

عبـــدالله خـــان ۳۳۸. ۳۴۱. ۰
۳۷۰. ۳۷۵. ۳۹۱. ۳۹۸.

عبـدالله خـان (برادر عزیز عبدالله خان ، یحیي خان) ۳۶۱.

عبدالله خان (برادر عزیز) ۳۶۲.

عبـدالله خـــان (سیـد) ۳۳۷. ۳۴۴. ۳۴۷. ۳۴۸.

عبدالله خان اوزبک ۲۰۵.

عبـدالله سـروانـي (حـاجـي الـحرمین حاجي) ۱۲۷۲. ۱۲۸۷.

عبدالله کوهاټی ۱۳۴۸

عبدالله مسعود (عبدالله بن مسعود) ۳۲۳.

عبدالطیف (د ناصر خان ملازم) ۳۴۲.

عبدالملک (د مروان زوی) ۴۴. ۴۵۴.

عبدالمؤمن (د میر دائم داماد) ۱۲۵

عبـدالـنبـي خـان (د حسن خان مهمند ورور) ۱۷۳

عبدالوهاب ۱۲۴

عبدالهادي (د افتخار خان زوی) ۳۰۳.

عبدل (ملک) ۲۷۹.

عبدل بیټنی (د خضر بیټني پلار) ۱۲۷۸.

عتبه (د مخزن له رویه د حضرت خالدؓ د پلار ولید پلار) ۳۲ نوټ۳.

عتبه (د قیس پټهان غور نیکهٔ) ۴۲.

عتبه (د سادول طالوت نیکهٔ) ۴۳.

عثم ۴۲.

عثـمـانؓ (امیـر الـمـومنین، حضرت) ۸. ۲.
۲۸۵.

عثمان . وګورئ خواجه عثمان.

عثمان (مولیزی، شیخ) ۱۹۹

عثمان ۲۴۸.

عثـمــان (شیخ) ۱۷۸ ۲۳۸
۲۴۵. ۲۴۷.

عثـمـــان (مـلا) ۲۶۰.
۲۷۷. ۴۰۷. ۴۱۶.

عثمان (شیخ، ارباب) ۱۳۹۵ ۱۳۹۷

عثمان (د افریدیو مورث) ۲۱۸. ۲۶۳.

عـجـب خان (د خوشحال خان خټک زو
۲۲۱. ۲۷۷. ۳۲۹. ۳۷۵. ۳۹۸. ۰۱
۴۱۸. ۴۲۰.

عـدلـي، سـلطان محمد عادل شاه، مبارز خ
مـمـریـز خـان. ۱۵۹ ۱۶۰ ۱۶۱ ۱۶۲
۱۶۳ ۱۶۴ ۱۶۵ ۱۶۶ ۴۵۸

عزت (د عبدالله) ۳۴۳.

عزت خان (بنګبن) ۳۶۷.

عزت کهتر ۳۴۳.

عزیر (مهتر) ۳۱.

عزیز وګورئ یوسف.

عـزیـزبـختـهٔ (د حضرت شیخ رحمکارؒ وا
صاحبه) ۱۳۶۷

عـزیـز خـان (د بهـادر داؤدزي زوی) ۱۷
۱۹۳. ۱۹۴. ۲۹۵. ۲۹۶. ۲۹۷.

عـزیـز خـان (د خوشحال خان خټک زو
۲۲۱.

عسکري (میرزا، د همایون بادشاه ورور)
۱۲۱ ۱۲۴. ۱۲۳.
عطا شاهو خیل ۱۰۲
عظمت ۲۶۳. ۲۶۵.
عظمت جنډ ۳۴۷.
عظمت خان (د خان جهان فرزند خان لودي
زوی) ۱۷۱ ۱۷۲
عظیم الدین، محمد عظیم (د بهادر شاه
زوی) ۳۳۵. ۳۳۷.
عفان (شیخ، د حضرت شیخ رحمکارؒ ورور)
۱۳۸۷
عکرمه (د مخزن له رویه د حضرت خالدؓ د
پلار ولید نیکهٔ) ۳۲ نوټ ۳.
عکرمهؓ (د ابو جهل زوی) ۳۵. ۴۰.
علاول خان وګوری عادل خان.
علاول خان (د بلخ بدخشان په مهم کښې د
شمشیر خان ترین او خوشحال خان ختک
و همکار) ۱۸۲
علاء الدین (سلطان، زوی د سلطان محمد)
۴۸. ۴۹. ۵۱. ۵۲. ۵۳. ۵۶.
علاء الدین (زوی د پهو) ۴۵۹.
علاء الدین (زوی د خوشحال خان ختک)
۲۲۱.
علاء الدین جلواني (ملک) ۶۷
علاء الدین سواتی (سلطان) ۲۰۷.
علقمه ۲۰.
علیؓ، حیدرؓ (امیر المؤمنین، حضرت) ۷. ۸.
۱۸۷. ۲۱۷. ۲۸۵. ۳۵۴. ۴۲۱. ۴۶۵.
علي (پیر، شیخ) ۲۵۸.
علي (شیخ، بختیار ثاني) ۴۲۲. ۰
علي (چې په نامه ئې بنهر یاد شوی دی د
شیخ یحییٰ بختیار مدفن دی) ۴۳۰.
علي (علي خیل له اولاده د سنجر) ۴۶۰.
علي اصغر (یوسفزی سردار) ۲۰۹.
علي بیټنیؒ (ملا) ۱۲۷۲ ۱۲۷۶
علي بیګ ۲۶۱.
علي تارن (شیخ) ۱۲۸۷ ۱۲۹۵
علي خان (د ناګور د حاکم محمد خان
همقام) ۶۹
علي سرواني (شیخ) ۱۴۳
علي شهباز (شیخ، د شیخ مهلي قتالؒ زوی)
۴۶۰.
علي شیر (د شیخ احمد زنده پیر زوی)
۴۶۰.
علي قلي (شهزاده) ۱۹۸
علي محمد (چې په نامه ئې علي محمد کلې
یاد شوی دی) ۳۸۷.
علي مردان خان (نواب) ۱۸۱ ۱۸۴
۱۸۵. ۱۸۶. ۲۴۰. ۲۸۷. ۳۲۱. ۴۰۶.
عماد (زوی د خان خانان فرملي) ۶۵
عماد (د تاج کرلاني ورور) ۱۶۵ ۱۶۶
۱۶۷
عماد خان ۶۷
عمادالملک ۵۲. ۷۳.
عمال ۴۲.
عمر (شیخ، د بایزید اورمړ زوی) ۲۰۴.

۲۱۳.
عمر (عمرزي له اولاده د بوچي) ۴۵۹.
عمر (زوی د الیاس) ۴۶۰.
عمرا (حاجي، ملک میری) ۲۹۰.
عمر اسماعیل خیل ۲۵۰.
عمرخان (د سکندر خان سور زوی) ۴۷.
عمر خان (میان) ۱۲۸.
عمر خان سرواني ۶۰. ۶۱ ۸۶.
عمر خان سرواني (گکهور، مسند عالي) ۱۰۲ ۱۲۰
عمر خان سرواني نیب (د عیسٰي خان مسند عالي پلار) ۱۰۲ ۱۲۵
عمرِ خطاب (فاروق، امیرالمؤمنین، خلیفه). ۳۱. ۳۵. ۳۸. ۴۰. ۴۱. ۴۲. ۲۵۸. ۱۳۷۳
عمر کوکه ۳۴۶.
عنایت (امازی) ۳۳۱.
عنایت (بنگښ، ملک میری) ۲۹۰. ۳۴۳.
عنایت خان (د مصري خان ختک زوی) ۲۲۲.
عنایت خان ۲۴۵.
عنق و گوری عوج.
عنین ۴۲.
عوج، عاد (د عنق زوی) ۱۸.
عیسٰي ۵.
عیسٰي (شاه، پیر) ۲۸۵.
عیسٰي (میان) ۲۰۵.
عیسٰي خان (زوی د تاتار خان لودي) ۵۹.
عیسٰي خان ترکچه ۴۹. ۵۲.
عیسٰي خان حجاب مسند عالي (زوی د هیبت خان سرواني) ۱۰۳ ۱۰۴. ۱۰۵. ۱۰۹.
عیسٰي خان حجاب مسند عالي (ترهٔ د مظفر خان سرواني) ۱۰۴ ۱۰۹ ۱۱۰. ۱۱۲.
عیسٰي خان گکهور مسند عالي، خواص خان ۱۲۰. ۱۲۱ ۱۲۴ ۱۲۵. ۱۲۹. ۱۳۲ ۱۳۳ ۱۳۵ ۱۳۶ ۱۳۷ ۱۳۸ ۱۳۹ ۱۴۰ ۱۴۶. ۱۴۷ ۱۴۸ ۱۴۹ ۱۵۰. (د خواص خان خطاب بیا مومي) ۱۵۲
عیسٰي خان مسند عالي زوی د عمر خان ۱۰۲
عیسٰي خان لوحاني میان خیل ۱۶۸
عیسٰي خان نیازي ۱۲۲. ۱۲۵. ۱۲۶ ۱۲۷ ۱۳۴ ۱۳۹ ۱۴۴ ۱۴۸. ۱۴۹ ۱۵۱
عیسٰي سنلهی (شیخ) ۱۲۹۵
عیسٰي مشوانی (شیخ) ۱۲۸۷. ۱۳۰۴.
عیسٰي مهمند ماشوخیل ۳۱۵. ۳۴۴.
عیص (د قیس پتان پلار) ۴۲.
عیلم ۴۲.

غ

غابر ۴۳.
غازي (ملک) ۴۴.
غازي خان ۱۴۴. ۱۴۵. ۱۴۶. ۱۴۸.

غازي خان بلوتي ۸۱.
غازي خان بلوڅ ۱۲۶
غازي خان مير احمد خيل ۲۴۸.
غزني خان (د مصري خان ختک زوی).
۲۲۲.
غوری، غوري يا غورا (د کند زوی او د
غوريه خيلو مورث) وګورئ غوري.
غفور بيګ وګورئ عبدالغفور.
غفور شنواری ۴۱۴.
غلام (قاضي) ۳۸۸.
غني (دخنجر) ۳۸۱.
غني (د کاکړ زوی) ۴۶۰.
غورغشت ۴۲. ۴۴۹. ۴۶۰. ۴۶۱.
غوري وګورئ غوری ۱۹۶ ۴۵۱. او اولاد
ي ۱۹۶ ۱۹۷ ۴۵۱. ۴۵۲.
غوري. (زوی د پهو) ۴۵۹.
غياث الدين ۳۸۵. ۳۸۶.
غياث الدين (سلطان) ۱۲۶۸
غيرت خان ۲۱۴.
غيرت خان (د نجابت خان زوی) ۴۶۲.

ف

فاخر خان (د بنګښ فوځدار) ۲۹۶. ۲۹۸.
۲۹۹. ۳۰۹. ۳۱۷. ۳۱۸.
فاطمهؓ (مبارکه لور بي بي د حضرت سرور
کائنات صلي الله عليه و اله و اصحابه وسلم)
۴۶۱.
فاطمهؓ (خور بي بي د حضرت خالدؓ) ۳۹.
فاطمه (د ملک اکوړ د زوي يوسف خان
لور) ۲۱۹.
فتح (شيخ، د حضرت شيخ رحمکارؒ مريد)
۱۳۶۲ ۱۳۶۳
فتح الله خان شيرازي ۲۱۱.
فتح الله خان، مير محمد صادق خوستي (د
عالمګيري عهد يو امير) ۳۱۰. ۳۱۱.
۳۱۲. ۳۱۳. ۳۱۴. ۳۱۵. ۳۱۶.
فتح خان (شهزاده) ۶۴
فتح خان (زوی د اعظم همايون سرواني)
۴۳. ۸۰.
فتح خان ۲۱۵.
فتح خان (د خوشحال خان ختک زوی)
۲۲۱.
فتح خان (بل) د خوشحال خان ختک
زوی) ۲۲۱.
فتح خان (د دريا خان افريدي زوی) ۴۱۵.
فتح خان، الياس خان (زوی د مسند عالي
عيسی خان حجاب) ۱۳۹
فتح خان بلوڅ ۱۲۶
فتح خان بيټنی ۱۶۵ ۱۶۶
فتح خان هروي ۵۱. ۵۲.
فتحه (بي بي، لور د کالا پهاړ) ۱۰۲ ۱۰۵
فدائي خان (د شاهجهان او عالمګيري عهد
يو لوئی منصبدار او امير) ۱۷۰ ۱۷۱.
۲۵۶. ۲۶۷. ۲۶۸. ۲۸۰. ۲۸۶. ۲۸۸.
۲۹۹.
فرحت خان (د خوشحال خان زوی) ۲۲۱.
فرخ سير (والا ګهر، محمد) ۳۳۷. ۳۴۰.

۳۴۷.
فرزند خان وګورئ خان جهان لودي.
فرعون ۱. ۱۷.
فرید (د ملا جان محمد پلار) ۳۷۹. ۳۹۵.
فرید بخشي (شیخ) ۲۱۲.
فرید شکر ګنجؒ (شیخ) ۱۷۷ ۱۳۰. ۱۴۸
فضل الله خان (د اټک فوځدار) ۲۹۵.
فغفور خان (د خوشحال خان ختک زوے) ۲۲۱.
فقیرے علي بیګ خیل ۲۶۱.
فلاطون وګورئ افلاطون.
فیروز (ملک) ۴۸.
فیروز خان (د اسلام شاه زوے او جانشین) ۱۵۹
فیروز خان (د خوشحال خان ختک ترۀ) ۲۱۹ ۲۲۲. ۲۳۱. ۲۳۴. ۲۳۸. ۲۵۸. ۲۵۹. ۲۶۲؟.
فیروز خان (د حکیم او بنادي پلار) ۲۶۲ .وګورئ فیروز خان د خوشحال خان ختک ترۀ هم. خصوصاً ۲۱۹. ۲۲۲. ۲۶۲.
فیروز شاه (سلطان) ۴۷.
فیروز شاه (زوے د سمو) ۴۵۹.
فیض الله (ملا) ۲۰۵.
فیضي (شیخ) ۴۱۱.

ق

قابل ملک میرے ۳۰۹. ۳۱۷. ۳۱۸. ۳۱۹. ۳۲۰. ۳۲۱. ۳۲۲. ۳۲۳. ۳۴۳.
قادر. ۴۲.
قادر خان وګورئ عبدالقادر خان.
قادر شاه ملو خان ۱۲۱. ۱۲۷. ۱۲۸. ۱۲۹
قارن ۳۶.
قاسم (ملک، د سنبل حاکم) ۷۳.
قاسم (پیر) ۲۸۵.
قاسم (اخون) ۳۸۸. ۳۸۹. ۳۹۳.
قاسم خان (شاهجهاني امیر) ۱۸۹
قاسم خان (د امیر خان ولد خلیل الله خان د کابل د صوبه داری په دوران کښې د توپخانې داروغه او د دوابې تانه دار) ۳۹۹.
قاسم خیل (میاں) ۴۲۲. ۱۲۷۰.
قاسمے شابي خیل ۴۱۶.
قالع ۱۶
قتلغ خان ۵۶. ۵۷.
قتلو لوحاني ۱۶۷ ۱۶۸
قذیفه، کظیفه ۲۱۹. ۲۳۲.
قطب (سید) ۱۹۰
قطب الدین ۳۸۰. ۳۹۷.
قطب الدین اوشي، بختیار کاکيؒ. (حضرت قطب الاقطاب) ۴۲۲. ۴۲۳. ۴۲۴.
قطب الدین ایبک (سلطان) ۴۶.
قطب الدین خان ۱۹۵.
قطب خان (د اسلام خان لودي زوے) ۴۷ ۴۹. ۵۰. ۵۱. ۵۲. ۵۳. ۵۴. ۵۵. ۵۶. ۵۸. ۶۸. ۷۳.
قطب خان (زوے د حسین حان) ۴۹. ۵۳.

.۵۵
قطب خان (د غازي خان بلوتي زوی) ۸۱.
قطب خان (د بنګال د بادشاه نصیب شاه سپه سالار) ۹۶. ۹۷.
قطب خان (د شیر شاه زوی) ۱۰۴ ۱۲۱
قطب خان نائب، نیب ۱۱۰ ۱۲۲ ۱۲۳ ۱۲۵ ۱۲۶ ۱۴۰ ۱۴۶. ۱۴۷ ۱۴۹
قفلان ۱۶
قلندر (د ظفر خان) ۳۸۲.
قلندر سلطان ۳۳۱. ۳۳۲.
قلي بیګ (مرزا) ۱۹۹.
قلیج خان ۲۴۴. ۲۴۵.
قمرود ۴۲.
قیاس الدین (د محمد غیاث پلار) ۳۷۹. ۳۸۵. ۳۸۶.
قیام الدین کنګ ۱۶۸
قیس (د اشعث کندي پلار) ۴۱.
قیس (د منهال پلار) ۴۲.
قیس (د طالوتؑ پلار) ۴۳.
قیس، عبدالرشید پټهان ۴۲. ۴۳. ۴۴. ۴۴۹. ۴۶۶. او اولاد ئي ۴۴۹. تر ۴۶۶.
قیمت، قیمت خان اوریا خیل ۲۶۸. ۲۷۲.
قیمتي آبه ۳۶۱.

ک

کاچو (د غرهٔ د یوسفزیو ملک) ۲۳۷.
کادی ۳۰۴. ۳۰۶. ۳۰۷. ۳۱۱. ۳۱۴. ۳۱۹. ۳۲۳. ۳۲۵. ۳۲۶. ۳۳۱. ۳۳۴. ۳۳۷. ۳۴۰. ۴۰۲. ۴۰۷. ۴۱۸. ۱۴۳۰
کاظم (خوجه) ۳۴۱.
کاغ دوړی ۴۵۶.
کاکړ (د داني زوی) ۴۶۰.
کالا (د ملک بهرام زوی او د سلطان بهلول پلار) ۴۵۹.
کالا پهاړ فرملي وګورئ محمد فرملي.
کالا پهاړ لوحاني ۱۲۷ ۱۴۹
کالب ۱۹
کام بخش (د اورنګ زیب عالمګیر زوی) ۱۷۳، ۳۲۱. ۳۴۷.
کامران (میرزا، د همایون بادشاه ورور) ۱۱۵ ۱۲۵ ۱۵۶ ۱۵۷
کامران خان (د خوشحال خان خټک زوی) ۲۲۱.
کامل بیګ (د عالمګیري عهد یو منصبدار) ۲۵۰.
کانسي ۴۵۱.
کانون (پیر) ۴۲۶.
کبیر لودي ۷۳.
کپوړی ۳۲۷. ۳۷۸. ۳۹۹.
کجین (زوی د شیخ بیټ) ۴۵۳.
کچی (د غرهٔ د یوسفزیو ملک) ۲۳۷.
کدا (د بهدین زوی) ۴۶۰.
کرانو (د کاکړ زوی) ۴۶۰.
کړلاڼ ۲۱۷. او اولاد ئي ۲۱۷. تر ۲۲۴. او ۴۶۲ تر ۴۶۶.

كرم ۴۲.
كرن سنګهـ (رائې) ۵۲. ۵۳. ۵۵. ۵۶. ۵۷.
كروچوپان سربني (شيخ) ۴۲۲. ۱۲۶۵.
كري تارن (خواجه) ۱۲۸۷ ۱۲۹۴
كريم داد (شيخ، د شيخ الله داد زوی) ۲۶۸.
كريم داد كور (د جلال الدين روښاني زوی) ۱۷۲.
كزوی (د ابراهيم زوی) ۴۶۰.
كشمير ۱۳۳۲
كظيفه نيا وګورئ قذيفه.
ككهور (زوی د سوري) ۴۶۰.
ككهور (شيخ احمد، زوی د موسی) ۴۶۰.
كلا خان افريدی ۲۶۲. ۲۶۴. ۲۶۹.
كليانمل (د رائې كرن زوی) ۵۶.
كليم شاه ځينی ۲۵۸. ۲۵۹.
كمال (ملا) ۲۷۰.
كمال الدين (د بايزيد اورمړ زوی) ۲۰۴.
كمال الدين (د دلير خان داؤدزي زوی او د جمال الدين پلار) ۳۰۶.
كمال خان (د شيخ ركن الدين روهيله زوی) ۱۷۲. ۱۳۹۱.
كمال خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۱. ۳۲۹.
كمال خان (د حسن علي افريدي زوی) ۳۰۶.
كمال خان مهمند ۲۷۸.
كمال كاكړ (شيخ، حضرت شيخ) ۱۲۸۷. ۱۲۹۱. ۱۲۹۲. ۱۲۹۳
كند ۹۶. ۴۵۱.
كوبنكران ۱۲۸.
كوكلتاش خان ۳۳۷.
كوكی (د نصير خان لوحاني ارتينه) ۱۰۲
كهندو (ملک) ۶۲
كهړی يا كيوړی (د سنجر زوی) ۴۶۰. ۴۶۱.
كيرت رای (ضابط، راجا د كالنجر د قلعې) ۱۳۴ ۱۳۵.
كيقباد معز الدين ۱۳۶

ګ

ګدا (شاه، د شاه ابابکر فرزند) ۴۲۲. ۴۳۲.
ګدائي (شيخ، د شيخ جمالي كنبو فرزند) ۱۲۵.
ګل فقير ۳۲۸.
ګل قطب ۳۷۹.
ګنج علي خان (د علي مردان خان زوی) ۲۷۸. ۳۵۹. ۳۶۰. ۳۶۱. ۲۶۵. ۴۰۳.
ګنيش (رائې) ۵۹. ۶۵
ګوپا (د مارواړ د راجه مالديو پو افسر) ۱۳۲. ۱۳۳.
ګورو دته ۳۸۱.
ګوهر خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۱. ۲۲۷. ۳۲۹. ۳۴۱. ۳۱۸. ۴۱۹. ۴۲۰.

ل

لاډ ملکه ۱۰۱. ۱۰۲.

لالوګـے غل ۳۱۷.
لاوي (د حضرت يعقوب عليه السلام فرزند)
۱۶. ۲۰. ۲۲. ۲۸.
لبان ۱۴ ۱۵
لبنکر خان ۲۱۶.
لبنکري (زوے د مخلص خان) ۱۷۰
لبنکري غلځے ۳۹۹. ۴۱۴.
لبنکري ګکهړ ۲۹۰.
لعل بيګ (د بلند پلار) ۳۴۸.
لعل بيګ (د کوهاټ) ۲۷۲.
لعل بيګ (د شير خان کوهاټي ترۀ) ۲۹۱.
۲۹۲. ۴۰۵.
لقمان (چې په ختک مشهور دے) ۲۱۷.
۲۱۸. ۳۶۳. ۴۶۳. او اولاد ئې ۲۱۷ تر ۲۲۴.
لکهمي چند (رائے، زوے د راجه بهيد) ۶۲
لمک (د حضرت نوح عليه السلام پلار)
۱۲ ۴۳.
لميز (د کاکړ زوے) ۴۶۰.
لنګر ختک ۲۸۵.
لودي وګورئ ابراهيم.
لودي خان (د سليمان کرلاني لوئے امير)
۱۶۷
لوئي ۴۳.
ليلي ۱۳۳۷

م

مادهو سنګهـ ۱۷۱
مالديو (راجا) ۱۳۲ ۱۳۳
مالک (بن نويره) ۳۴. ۳۹.
مامو (ملک) ۲۲۹.
مامون ۱۰
مان (راجا) ۵۸. ۶۰ ۶۵ ۶۶ ۷۵.
مانا (د ملک يوسف زوے) ۴۵۹.
مان سنګهـ (راجا، کنور) ۶۸ ۲۰۹.
۲۱۲. ۲۱۳.
مان سنګهـ ديوان (رائے) ۴۱۰.
مانک ديو. (رائے. راجا) ۶۵
مانکے (يوسفزے ملک) ۲۸۵.
مانکے شهباز بريڅ (شيخ) ۲۲۲. ۴۲۲. ۱۲۶۴
مانون ۱۶
مانے (د کاکړ زوے) ۴۶۰.
مانے خدمتګار ۳۴۴.
مبارز خان ۵۵.
مبارز خان (پلار د يوسف خان) ۱۰۲
مبارز خان امرا ۲۵۵.
مبارز خان ګکهړ (سلطان) ۱۰
۳۰۵. ۳۴۲. ۳۶۰. ۳۶۱.
مبارک (ملک، د جونپور يو عهده دار)
۵۴.
مبارک خان (د احمد خان مېواتي ترۀ) ۵۲.
مبارک خان ۵۲.
مبارک خان ۶۳.
مبارک خان (زوے د تاتار خان حاکم د
سنبل) ۵۶.
مبارک خان سربني ۱۲۹
مبارک خان فرملي ۱۱۱
مبارک خان لوحاني (د جونپور حاکم) ۶۱

۶۲. ۶۳.
مبارک خان لودي ۶۸.
مبارک شاه ۵۸.
مبارک شاه (سلطان) ۴۷. ۵۲.
متا (د یونس زوی) ۴۶۰.
مترسین (د لکهنؤ راجا) ۱۲۴.
متو (بي بي، لور د شیخ بیټ او ارلینه د شاه حسین غوري ۱۲۷۴. ۴۵۳. ۴۵۴. ۴۵۵. ۴۵۶. او اولاد ئې ۴۵۶ تر ۴۶۱.
متوشلح ۱۲. ۴۳.
مته خان (ملک) ۲۰۹.
متهه کانسي (شیخ) ۴۲۲. ۱
متهي خان (میاں) ۸۶.
متي خلیل (شیخ) ۴۲۲. ۱۲۶۲. ۱۲۶۳. ۱۲۶۴.
مثنیٰ بن حارثه شیباني ۳۶.
مجاهد ۲۰.
مجاهد (شیخ) ۳۵۳.
مجاهد، مجاهد خان ۲۶۵. ۳۳۰. ۳۷۹. ۳۸۰.
.مجنون ۱۳۴۷.
مجن نیازي (شیخ) ۱۲۷۲. ۱۲۸۶.
محب الله (ارباب د محمد خان ارباب) ۳۹۰. ۳۹۲. ۳۹۳.
محبت خان ۶۲.
محبت رخړ ۳۹۶.
محبت کمالزي ۳۳۹. ۳۴۳.
محتشم (د ابراهیم زوی) ۳۳۰.
محسن خان (د کابل صوبه دار) ۲۰۳. ۲۰۴.
محمد ﷺ سره د خپلو نورو پاکو نومونو او سپیڅلو لقبونو پیغمبر آخرزمان، پیغمبر خدا، پیغمبر علیه السلام، حضرت، حبیب الله، خاتم النبیین، خیر البشر، رسالت پناه، رسول الله، سردار د پیغمبرانو، سرور عالم، سرور کائنات، سید المرسلین، سید الوریٰ، صدرالوریٰ، مصطفیٰ، حضرت نبوي علیه افضل التحیات والصلوٰة و علیٰ اٰلِهٖ و اصحابه اجمعین. ۱۲. ۲۲. ۳۱. ۳۲. ۳۳. ۳۴. ۳۵. ۳۶. ۳۷. ۳۸. ۳۹. ۴۰. ۴۱. ۴۲. ۴۳. ۴۴. ۱۱۷. ۱۲۴. ۱۵۰. ۲۰۳. ۲۲۹. ۲۸۵. ۴۲۱. ۴۲۳. ۴۲۵. ۴۲۶. ۴۲۹. ۱۲۷۷. ۱۲۷۹. ۱۲۸۳. ۱۳۰۵. ۱۳۰۹. ۱۳۱۰. ۱۳۱۱. ۱۳۱۲. ۱۳۱۳. ۱۳۱۶. ۱۳۳۶. ۱۳۶۵. ۱۳۷۵. ۴۱۴.
محمد (ابن اسحاق جریر الطبري) ۲۱.
محمد (شهاب الدین معز الدین بن سام، سلطان) وګورئ شهاب الدین غوري.
محمد (ملک) ۴۴۷.
محمد (سلطان، زوی د سلطان محمود) ۴۵.
محمد (سلطان د هلي) ۴۷. ۴۸.
محمد (شیخ) ۱۴۳.
محمد (د محمود چغرزي زوی) ۱۹۹.
محمد ۲۷۰.
محمد (ارباب، د ارباب مستجاب خان

مهمند زوی) ۳۱۱. ۳۱۴. ۳۸۱. ۳۸۲.
۳۸۶. ۳۸۷. ۳۹۰. ۴۱۰. ۴۱۱.
محمد (د حضرت قطب الدين بختيار كاكيؒ
فرزند) ۴۲۴.
محمد (شيخ، له اولاده د انجا) ۴۵۹.
محمد اشرف (د مؤلف زوی) ۳۴۵. ۳۶۰.
۳۶۵. ۳۸۴. ۳۸۵. ۳۸۷. ۳۹۵.
محمد الدين سرهندي (ميان) ۱۲۴.
محمد امين خان (د عالمگيري عهد يو لوئی
امير) ۱۹۳ ۲۵۰. ۲۵۳. ۲۵۴. ۲۵۵.
۲۵۶. ۲۶۷.
محمد باقرؓ (امام) ۲۱۷. ۴۶۵.
محمد خالاک وګوری خالاک.
محمد حسن (د بهادر شاه بکاول) ۲۹۶.
۲۹۸. ۲۹۹. ۳۰۰. ۳۰۱. ۳۰۲. ۳۰۳.
محمد حسن خان، حسن خان (زوی د
مؤلف) ۳۴۵. ۳۵۶. ۳۵۸. ۳۵۹. ۳۶۷.
۳۷۸. ۳۸۵. ۳۸۶. ۳۹۵. ۱۴۳۲.
محمد حكيم مرزا. وګوری حكيم مرزا.
محمد حسين (زوی د خان جهان فرزند خان
لودي) ۱۷۱.
محمد حسين (داروغه، د اټک حاكم)
۳۳۳.
محمد خان (نمسی د ناصر الدين مالوي) ۶۸
محمد خان (ورور د لکهنؤ د حاكم احمد
خان زوی د مبارک خان لودي) ۲۸.
محمد خان (د ناګور حاكم) ۶۹.
محمد خان (ورور د شهزاده جلال خان د
آبدار او پاندار خضر خان) ۱۳۵ ۱۳۸
محمد خان (د احداد خان مهمند زوی)
۱۷۱.
محمد خان (د خوشحال خان خټک ترۀ)
۲۱۹. ۲۳۴.
محمد خان، ملک محمد (برادر عزيز)
۳۱۷. ۳۲۹. ۳۳۰. ۳۳۸. ۳۴۱. ۳۴۴.
۳۶۰. ۳۶۱. ۳۶۳. ۳۶۴. ۳۶۵.
محمد ديدار ۳۵۸. ۳۶۵.
محمد رحيم (د بهادر شاه واقع نويس)
۳۰۰.
محمد زمان (ميرزا) ۱۰۴ ۱۱۸
محمد زمان (د پيردار زوی) ۱۷۲.
محمد سعيد (د مؤلف زوی) وګوری سعيد
خان.
محمد شاه ۶۵.
محمد شاه وګوری بهار خان.
محمد شاه (مغل بادشاه) ۳۵۴.
محمد شرف (د عجب خان) ۳۲۹.
محمد شفيع (د سيد مظفر خان نمسی)
۱۷۱.
محمد شون پني (شيخ) ۱۲۸۷. ۱۲۹۹
محمد صاحب مردانه ۱۲۲.
محمد عظيم وګوری عظيم الدين.
محمد علي خان (د مؤلف زوی) ۳۳۸.
۳۴۲. ۳۴۳. ۳۴۴. ۳۴۵. ۳۴۶. ۳۴۸.
۳۵۵. ۳۵۶. ۳۵۷. ۳۵۸. ۳۶۰. ۳۶۱.
۳۶۲. ۳۶۴. ۳۶۵. ۳۷۰. ۳۷۵. ۳۷۶.

۳۷۷. ۳۷۸. ۳۸۲. ۳۸۳. ۳۸۴. ۳۸۵.
۳۸۶. ۳۸۷. ۳۸۸. ۳۹۵. ۱۳۳۲
محمد غوث (شیخ) ۱۱۵.
محمد غوث گوالیري (شیخ) ۴۳۲.
۱۲۸۳. ۱۲۸۴.
محمد غیاث ۳۶۲. ۳۷۰. ۳۷۱. ۳۸۵.
۳۹۲. ۳۹۳.
محمد فاضل (شیخ) ۳۲۴.
محمد فاضل (پیر) ۳۵۳. ۳۶۵.
محمد فرخ سیر (والا گهر) وګورئ فرخ
سیر
محمد قاسم (محمد بن قاسم، عماد الدین)
۴۴.
محمد قاسم (د بیرم خان ملازم) ۱۲۵
محمد قاسم (د گوالیر قلعه دار) ۱۲۷
محمد قاسم اخوند وګورئ قاسم.
محمد قلي بیگ افشار ۲۱۳.
محمد ککپور (شیخ) ۱۳۵. ۱۳۷
محمد محتشم (قاضي) ۳۹۱.
محمد مخلص ۳۵۷. ۳۶۰.
محمد مکرم (اخوند) ۳۹۱.
محمد یار (د خوشحال خان ختک د ترهٔ
بهادر خان زوی) ۲۶۶.
محمد یار ۲۶۶
محموتی ۲۴۶. ۲۴۷. ۲۴۸. ۲۴۹.
محموتی (د حکیم زوی) ۲۶۴. ۲۶۵.
محمود ۱۹۰
محمود (ملک) ۴۴.
محمود (ملک، افغاني لودي) ۴۶.
محمود (سلطان) ۱۰۷.
۱۲۷
محمود (زوی د ملک احمد زوی د ملک
شاهو) ۴۵۹.
محمود (زوی د ملک کالا شاهو خیل او
ورور د سلطان بهلول) ۴۵۹.
محمود (شیخ، زوی د شیخ احمد ککپور)
۱۲۷۲. ۴۶۰.
محمود (حاجي، شیخ زوی د شیخ سلیمان
دانا سرواني او ورور د شیخ ملهي قتال)
۱۲۵ ۱۳۳ ۱۲۷۲ ۱۲۸۶ ۴۶۰.
محمود جلواني مجذوب (شاه) ۴۲۲.
۴۳۲.
محمود خان (د سلطان سکندر لودي زوی)
۵۹. ۷۳. ۹۴. ۱۰۲ ۱۰۳ ۱۱۸
محمود خان (د شیر شاه د زوي شهزاده
عادل خان زوی) ۱۳۲ ۱۳۷ ۱۳۹
۱۱۴
محمود خان (د احداد خان مهمند زوی)
۱۷۱
محمود خان خویشگی ۲۵۵.
محمود خان خلجي مالوي (سلطان) ۷۵.
۷۸.
محمود شرقي (سلطان) ۵۱. ۵۲.
محمود غازي (سلطان) ۳۱. ۴۴. ۴۵. ۴۷.
۱۵۸.
مخاوری (زوی د اسماعیل) ۴۶۰.

مخدوم جهانیان ۴۲۵. ۴۲۶.
مخدوم عالم (په حاجي پور کښې د بنګالې د بادشاه نصیب شاه نمائنده) ۹۶. ۹۷.
مخلص خان ۱۷۰.
مخلص خان (د عبدالکریم) ۳۵۶.
مداد (د شیر شاه ورور) ۸۶.
مداد عیسٰی زے ۱۹۹
مدو عیسٰی زے ۱۹۹.
مراد بخش (د شاه جهان زوے) ۱۷۸ ۱۸۴ ۱۸۹. ۱۹۰.
مراد خان (د میتو) ۲۶۳. ۲۶۶.
مراد قلي ګکهړ ۲۵۰.
مرحمت خان (بخشي د احد یانو) ۱۷۱
مرزا (د حکیمي پلار) ۲۶۲.
مرزا (شیخ) ۲۹۴. ۳۷۵.
مرزا خان (بلوه خیل) ۴۰۶.
مرزا خان کوهاټے ۱۷۷
مرزا مغل ۲۴۹.
مرزا مهمندے ۱۶۱.
مرسلین (د کاکړ زوے) ۴۶۰.
مروان ۴۴. ۴۵۴.
مریم. وګورئ بي بي مریم.
مریم مکاني (حریم محترم د همایون بادشاه بیګم جیو) ۱۱۹ ۱۲۰
مسابا ۲۰.
مستجاب مهمند (ملک، ارباب) ۲۳۵. ۲۵۴. ۲۵۵. ۲۶۷. ۲۱۱. ۳۱۱.
مستي (شیخ) ۱۳۷۵
مستي (پلار د سرواني) ۴۵۹.
مسعود (سلطان، د سلطان محمود غازي زوے) ۴۵.
مسعود (د حضرت عبدالله صحابي پلار) ۴۳۲.
مسعود (شیخ، د حضرت آدم بنوريؒ مرید) ۱۳۱۵ ۱۳۲۱ ۱۳۲۲
مسیلمة الکذاب ۳۵.
مصري خان (د غالي ډیر قلعه دار) ۲۸۷.
مصري خان امازے ۲۷۹.
مصري خان ختک (د ملک اکوړ زوے) ۱۹۴ ۲۱۹. ۲۲۱.
مطلوبے (د خالد خان معتق) ۳۵۰.
مطیع الاسلام (د نوښهر باشنده) ۳۵۷.
مظفر حسین مرزا ۱۶۹
مظفر خان (ورارهٔ د عیسٰي خان حجاب) ۱۰۹ ۱۱۰
مظفر خان (سید) ۱۷۰
مظفر خان (زوے د خواجه ابوالحسن) ۲۱۵. ۲۱۶.
معتمد خان ۱۷۰ ۱۷۱
معز الدین، سلطان. وګورئ محمد او شهاب الدین.
معز الدین (ملک) ۴۵.
معز الدین (د بهادر شاه زوے) ۳۳۵. ۳۳۶. ۳۳۷.
معز الملک بخشي ۲۱۵.
معظم (خواجه) ۱۱۹ ۱۲۰

معظم (فضیلت مآب، قاضي) ۳۳۵.

معظم (د مؤلف د تره بهرام خان زوی) ۴۱۲. ۴۱۷.

معین الدین حسن سنجريؒ (حضرت خواجه) ۴۲۳. ۴۲۴.

مقبول ۲۶۶.

مقرب خان دکني ۱۸۱.

مقیم ارغون ۱۹۹. ۲۰۹.

مکرم اخوند. وګورئ محمد اکرم اخوند.

مکرم خان (د شیخ میر زوی) ۲۸۰.

مکرم خان (د مؤلف د تره بهرام خان زوی) ۳۲۲. ۳۲۶. ۳۷۹. ۳۸۰. ۴۱۹.

مکن ۶۷.

مکن (شیخ زاده) ۶۹.

ملا جمال ۱۹۵.

ملانا (د ککو زوی) ۴۶۰.

ملتفت خان ۲۸۶. ۲۸۷.

ملک یار پران خرسین (خرسین) ۱۲۶۸. ۱۲۶۹. ۱۲۷۰.

ملو خان ۴۶.

ملو خان. وګورئ قادر شاه.

ملو خان (د اسماعیل خان یوسفزي زوی د خوشحال خان خټک خسر) ۲۲۱. ۲۸۱.

ملهي، ملي، مهلي قتال سروالي (شیخ) ۱۲۵. ۱۴۳. ۱۲۷۲. ۱۲۷۶. ۱۲۸۰. ۱۲۸۶.

ملي (شیخ، مرید د حضرت شیخ رحمکارؒ) ۱۳۵۷. ۱۳۵۸. ۱۳۹۹.

ملي خان خټک (ورور د علي خان او خسر د رشید) ۳۴۴.

مما (د سام زوی) ۴۶۰.

ممریز خان. وګورئ عدلي.

ممریز خان (د فیروز خان زوی) ۲۲۲.

ممریز خان (د امیر خان جماعه دار) ۴۱۱.

منبه ۲۱.

منجهو (شیخ زاده) ۷۴.

مندول ۷۳.

منصور (میر) ۱۳۲۲

منصور خان (د خوشحال خان خټک زوی) ۲۲۱.

منصور خان (چې په نامه ئې منصور خان کلی یا میله یاده شوې ده) ۲۶۵.

منعم خان خان خانان ۱۶۷

منعم خان عالمګیر شاهي وګورئ خان خانان عرف منعم خان.

منور الدین ۳۸۳. ۳۸۴.

منهال ۴۲.

مودود چشتي (حضرت خواجه) ۴۳۰. ۴۳۱. ۱۲۶۱. ۱۲۶۲.

موسیٰ (حضرت شیخ قطب الدین کاکي صاحبؒ نیکهٔ صاحب) ۴۲۲. ۴۲۵.

موسیٰ (د شیخ ابراهیم نمسی) ۳۹۶.

موسیٰ الریدی ۷۸.

موسیٰ بتي کوټي (میاں) ۳۱۴.

موسیٰ کاظمؒ ۴۶۱.

موسیٰ کلیم الله (حضرت مهتر) ۱.

۱۸. ۱۹. ۲۰. ۲۱. ۲۲. ۳۳.
مولانا روم ۱۴۱۵.
مومن خان (د خوشحال خان ختک زوی)
۲۲۱.
مومن غل ۲۴۶.
مهابت ۲۴۸.
مهابت خان خان خانان، لوئی مهابت خان.
۱۷۰. ۲۱۳. ۲۱۴.
مهابت خان عمدة الملک ۲۲۱. ۲۳۵.
۲۴۸. ۲۴۹. ۲۵۱. ۲۵۲. ۲۵۳. ۲۵۶.
۲۵۷. ۲۵۸.
مهابت خان (چې په پېښور کښې ئې په نامه
مسجد یاد شوی دی. محققه نه ده چې په
برنو دوؤ خانانو کښې چې پلار او زوی وو او
دواړه د کابل صوبه داران پاتې شوي وو کوم
یوه جوړ کړی دی) ۴۰۴.
مؤید بیگ (د سلطان محمود لودي زوی)
۱۱۱ ۱۲۲
مهارته چیرو ۱۱۵. ۱۱۹.
۱۲۰ ۱۲۱. ۱۲۲.
مهدامي خان ۱۹۵.
مهر سلطانه ۱۰۵.
مهلائیل ۱۲. ۴۳.
مهلب ۱۶
مهلول ۴۲.
میان خان میانی ۱۷۳.
میان، خان یوسفزی ۲۸۵. ۱۴۱۲.
میان نور (شیخ) ۲۸۵.
میدو بلوخ ۱۳۰.
میر ابراهیم وگوری ابراهیم
میر احمد ۱۰۱.
میر اسحاق ۱۰۱.
میر باز (د خوشحال خان ختک ورور)
۲۱۹. ۲۳۱. ۲۶۲. ۲۶۴. ۲۶۷. ۱۴۲۶.
متو مهمندی ممه خیل ۲۶۳.
میر جعفر (متصدي) ۳۱۱.
میر جمله، معظم ۱۹۳.
میرداد ۱۰۱ ۱۰۲.
میرزا روښاني ۷۶.
میرسردار (د عابد خان) ۳۶۱.
میر شیراني (شیخ) ۴۲۲. ۴۳۰.
میر علي (زوی د سمو) ۴۵۹.
میر قریش (د ماوراء النهر د بادشاه عبدالله
خان ایلچي) ۲۱۲.
میر گلی ۳۵۷.
میرویس غلجی ۳۳۱. ۳۳۳.
میره خان ۳۴۸. ۳۴۹.
میر هزاره ۲۸۶.
میر یعقوب ۲۴۸.
میریوزکاو مردانه ۱۲۲.
مینا حسن خیل.

ن

ناخور ۱۳. ۴۳.
ناد علي میداني ۲۱۵.
نازو خان بولاق ختک (د ملک اکوړ
کشنده) ۲۱۹. ۲۲۷.

ناصر (شاه) ۲۸۵.
ناصر الدین ۱۳۶.
ناصر الدین (د مالوې بادشاه) ۶۸
ناصر خان (نواب) ۳۰۲. ۳۰۳. ۳۰۴. ۳۰۵. ۳۰۶. ۳۰۷. ۳۰۸. ۳۰۹. ۳۱۰. ۳۱۳. ۳۱۴. ۳۱۵. ۳۱۸. ۳۲۴. ۳۲۵. ۳۲۸. ۳۳۴. ۳۳۵. ۳۴۰. ۳۴۱. ۳۴۲. ۳۴۳. ۳۴۵. ۳۴۶. ۳۴۷. ۳۶۰. ۳۶۵. ۳۹۸. ۴۰۰. ۴۰۱. ۴۰۳.
ناظر مبارک خوجه ۳۰۸.
ناغر د داني ۴۶۰.
نامدار (د مؤلف ورور) ۳۰۴. ۳۲۰. ۳۳۶. ۳۳۸. ۳۴۰. ۳۴۱. ۳۴۵. ۳۴۶. ۳۴۸. ۳۴۹. ۳۵۰. ۳۵۶. ۳۵۸. ۳۶۰. ۳۶۱. ۳۶۳. ۳۶۵. ۳۶۶. ۳۶۷. ۳۸۰. ۳۹۲. ۳۹۶. ۳۹۸. ۴۰۲.
نامدار (د عبدالله ورور) ۳۲۹.
نامدار (د ملک جانو) ۳۷۷.
نجابت خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۱. ۳۰۴. ۳۱۷. ۳۲۰. ۳۲۱. ۳۲۲. ۳۲۳. ۳۲۹. ۳۴۴. ۳۵۰. ۳۵۷. ۳۵۹. ۳۸۶. ۳۸۸.
نجاشي ۲. ۳۳.
نجیب (د صدر خان زوی) ۳۴۸. ۳۵۵.
نذر محمد خان ۱۷۹. ۱۸۱. ۱۸۲. ۱۸۴. ۱۸۵.
نسک ختک کرلانی (شیخ) ۱۳۲۶. ۱۳۲۷. ۱۳۲۸. ۱۳۲۹.
نصرت خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۱. ۳۲۹. ۳۵۵. ۴۱۹. ۱۲۲۶.
نصرت خانه زاد ۳۳۹.
نصیب خان ۱۶۱
نصیر خان (د غازي پور جاگیردار) ۱۷(ا).
نصیر خان لوحاني ۴۷. ۸۱. ۸۲. ۱۰۱. ۱۲۴ ۱۲۵
نصیر خان (ورور د سکندر خان) ۱۲۸. ۱۲۹
نصیر خان (د عهد شاهجهاني یو امیر) ۱۷۰
نصیر خان (د نواب ناصر خان زوی) ۳۶۰. ۳۸۶.
نظام (د شیر شاه ورور) ۸۶. ۱۰۷. ۱۰۸. ۱۵۹.
نظام (د ملک اکوړ زوی) ۲۱۹.
نظام الدین اولیاءً (سلطان المشائخ سلطان العارفین) ۱۲۷۰.
نظام الملک ۱۶۹
نظام الملک ۳۵۵.
نظام خان. وګورئ سکندر لودي.
نظام خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۰. ۲۶۱. ۲۶۴.
نظام دانشمند (شیخ، مولانا) ۱۳۵
نظامي ۱۳۲.
نظامي ګنجوي (شیخ) ۹۱. ۹۲. ۲۲۹. ۴۳۰.
نظر بهادر. وګورئ بهادر خان خویشکی.
نظر بی ۲۱۲.

نظر محمد و گورئ نظر بهادر.
نظر مهمند ۲۷۸.
نعمت الله هروي (خواجه) ۱۰
نعمت خاتون (ارتینه د قطب خان نعمت لودي) ۶۳. ۶۸. ۱۰۸. ۱۴۵.
نعیم ۴۲.
نکودین (د سمو زوی) ۴۵۹.
مرود ۱۲ ۱۴.
نندرکو (د ملک اکوړ ارتینه) ۲۱۹.
نوازش علي خان (د نواب ناصر خان زوی) ۳۴۲. ۳۴۶. ۳۶۵.
نوح، آدم ثاني. ۴۵۵.
نوح عرف لوهاني ۴۵۸.
نورالدین (د بایزید اورمړ زوی) ۲۰۴.
نور بیگ علي خیل ۲۶۰. ۲۶۱.
نورجهان (ملکه جهان، د سلطان حسین جونپوري محل) ۵۶. ۵۷.
نورو ۳۲۶. ۳۲۸.
نوروز خان (د خوشحال خان ختک زوی) ۲۲۱.
نوری (د اسماعیل زوی) ۴۶۰.
نوشیروان ۲. ۳۷. ۴۲.
نون ۱۸ ۱۹
نویره. و گورئ مالک.
نهال خواجه سرا.
نیک بخت (د مؤلف دوي خانه زاد قدیم الخدمت) ۱۴۳۱
نیک زن (د یحیٰي خان ختک ارتینه) ۲۱۹.
نیک نام داوي (شیخ) ۱۲۸۷.

و

والا گهر. و گورئ فرخ سیر.
وتو شوریاني (شیخ) ۲۲۴. ۲۳۰.
وحدت ۲۴۶.
وحشي ۳۵.
ولي (ملا) ۳۹۳.
ولید (د حضرت خالدؓ پلار) ۱۱ ۱۳ ۳۲.
ولیدؓ (د حضرت خالدؓ ورور محترم) ۳۲.
ولید (اموي بادشاه) ۴۵۵.
ولي داد (د فقیري علي بیگ خیل) ۲۶۱.
ولي دلازاک ساکن د میاں عیسٰي ۳۹۷.
ولي محمد (قاضي) ۱۴۰۱
ولي نعمة (د دلیر خان د مور عرف) ۱۹۴
ویس سواتي (سلطان) ۲۰۷.

هـ

هادي خان ۲۹۵.
هارون ۲۱. ۲۲.
هارون (د اشموئیل) ۴۲.
هارون (د ابراهیم ککهور یا گکهور د زوي زوی) ۴۶۰.
هاشم، هاشم خان (د عالم خان افریدي نمسی) ۳۵۹.
هجري. و گورئ اشرف خان.
هدو (د اسماعیل زوی) ۴۶۰.

هدیا (د سوني زوی) ۴۵۹.
هرقل (قیصر روم) ۳۳. ۳۶. ۳۷. ۴۰.
هرمز (یو ایراني سپه سالار) ۳۵. ۳۶.
هریا (د شیخ احمد ګکهور زوی) ۴۶۰.
هزار میر ورکزی ۲۱۶.
هلال ۳۷۴. ۳۷۵.
همایون (بادشاه، جنت مکان) ۱۰۲. ۱۰۳. ۱۰۴. ۱۰۵. ۱۰۶. ۱۰۷. ۱۰۸. ۱۱۲. ۱۱۳. ۱۱۴. ۱۱۵. ۱۱۶. ۱۱۷. ۱۱۸. ۱۱۹. ۱۲۰. ۱۲۱. ۱۲۲. ۱۲۳. ۱۲۴ ۱۲۵. ۱۲۶. ۱۲۷. ۱۴۴. ۱۵۶. ۱۶۱. ۱۶۲. ۱۹۵. ۱۳۰۴.
همایون (د سعادت خان د خوشحال خان ختک د زوي زوی) ۳۶۵.
همت خان (د فیروز خان زوی) ۲۲۲.
همت خان (د عجب خان ولد خوشحال خان ختک) ۳۲۹. ۳۷۵.
همزا، همزه. وګورئ حمزه خان یوسفزی.
هندال (میرزا، د همایون بادشاه ورور) ۱۱۱. ۱۱۵. ۱۱۸. ۱۲۱. ۱۲۲. ۱۲۳.
هندال اکوزی (ملک) ۲۰۹.
هندو بیک (میر) ۱۰۴. ۱۰۹. ۱۰۷.
هنسو (د عماد کرلاني زوی) ۱۶۷.
هود وګورئ عابر.
هونی ۲۱۷.
هیبت (د سوري ولد سرپال زوی) ۴۶۰.
هیبت خان (ګرګ انداز) ۵۷. ۷۴. ۸۰.
هیبت خان ۶۱. ۶۳. ۶۴.
هیبت خان ۱۲۷.
هیبت خان جلواني ۶۰.
هیبت خان سرواني (پلار د عیسی خان سرواني) ۱۰۵.
هیبت خان (پلار د مظفر خان سرواني) ۱۰۹.
هیبت خان (زوی د مسند عالي عمر خان ګکهور سرواني) ۱۲۰.
هیبت خان نیازي (مسند عالي اعظم همایون) ۱۱۲. ۱۱۳. ۱۱۶. ۱۲۲. ۱۲۳. ۱۲۹. ۱۳۰.
هیبت خان (د جلال خان، کمالزی) ۳۷۷. ۳۸۴. ۳۸۵.
هیبت خان کهتړ ۳۸۲.
هیتم ۲۳۳.
هیمون بقال ۱۶۱. ۱۶۲.

ي

یار خان خلیل ۴۰۴.
یاسین (د کهري یا کیوي زوی) ۴۶۱.
یاسین اورمړ (ملک) ۴۶.
یافث ۱۳.
یاماملی زی (ملک) ۲۰۹.
یحیی (ملک) ۴۴.
یحي (ملک) ۳۷۶.
یحیی. وګورئ شرف الدین یحیی منیري.
یحیی بختیار پائي (خواجه) ۴۲۲. ۴۲۵. ۴۲۶. ۴۲۷. ۴۲۸. ۴۲۹. ۴۳۰.
یحیی خان (د خوشحال خان ختک نیکهٔ)

۲۱۴. ۲۱۷. ۲۱۹. ۲۲۰. ۲۲۷. ۲۲۹.
۲۳۲.
یحیيٰ خان (د خوشحال خان ختک زوی)
۲۲۰. ۲۶۴. ۲۷۴. ۳۲۰. ۳۲۹. ۳۵۶.
۳۶۱. ۳۶۸. ۴۱۰. ۴۱۱. ۴۱۳. ۴۱۸.
۴۲۰.
یزد ۱۲. ۴۳.
یزدجرد ۴۲.
یزیدؓ (د حضرت ابوسفیانؓ فرزند) ۳۶. ۳۷.
۳۸. ۴۰.
یزید (د حضرت معاویهؓ شقي زوی) ۲.
۲۵۸. ۴۱۹.
عقوب اسرائیل الله (مهتر) ۱۱. ۱۲. ۱۳
۱۵ ۱۶. ۱۹. ۲۰. ۲۱. ۲۲. ۲۴.
۲۸. ۴۳. ۴۴۹.
عقوب بیگ ۱۱۴.
عقوب خلیل (د ملي خان ختک د زوم
شید پلار) ۲۲۴.
لنگ توش اوزبک ۲۱۵.
وسف (د حجاج ثقفي پلار) ۴۴.
وسف (لمسی د سیداني) ۱۲۸۹.
وسف (یوسف خیل، له اولاده د بوچي)
۴۵.
سف (زوی د یونس) ۴۶۰.
سف (زوی د اباېکر) ۴۶۱.
سف الویدی ۲۱۶.
سف اچاخیل ۱۳۲.
وسف ثاني. وکوری داؤد (د سلیمان کراني
یا کرلاني زوی).
یوسف خان (زوی د مبارز خان) ۱۰۲.
یوسف خان (داؤدزی، د دریا خان زوی او د
بهادر خان او دلیر خان ورور) ۱۷۴. ۱۸۹.
۱۹۲
یوسف خان (د ملک اکوړ زوی) ۲۱۹.
یوسف خان (د خوشحال خان ختک زوی)
۲۲۱.
یوسف خان (د عالم خان افریدي زوی)
۳۱۱. ۳۱۴.
یوسف سروانی (ملک) ۴۶. ۴۷.
یوسف سروانی ۱۲۲
یوسف، عزیز ۵. ۱۶ ۱۹
یوشع ۱۸. ۱۹. ۲۲.
یوقنا ۱۹.
یولبارس خان ۳۶۷. ۱
۳۷۴.
یونس (د ابوالفرح زوی) ۴۶۰.
یونس (یونس خیل له اولاده د کاکړ) ۴۶۰.
یونس (یونس خان له اولاده د تغرق) ۴۶۰.
یهودا ۱۶. ۱۹ ۲۱. ۲۲.

انڊکس
جغرافيائي نومونه

آ

آخور ۲۸۰. ۲۹۸. ۲۹۹.
آستانه ۱۸۱
آشام ۱۹۳
آگره، اکبر آباد ۵. ۶۰ ۶۵ ۶۶. ۶۷
۶۸ ۶۹ ۷۳. ۷۶(ا). ۸۳. ۹۱. ۱۰۵
۱۰۶. ۱۰۷. ۱۱۱. ۱۱۵. ۱۲۰ ۱۲۱.
۱۲۴ ۱۲۷ ۱۲۸. ۱۲۹. ۱۳۲ ۱۳۴
۱۳۹ ۱۴۰ ۱۴۵ ۱۴۷. ۱۴۸ ۱۴۹
۱۵۱ ۱۶۱ ۱۶۲. ۱۶۵. ۱۶۹ ۱۷۰
۱۷۱ ۱۸۷ ۱۸۹ ۱۹۰. ۲۱۶. ۲۹۶.
۳۲۱. ۳۳۷. ۱۲۹۶.
۲. آگره ۲۴۰.
آمو (آب) ۱۸۳
آوه ۲۸۰. ۴۱۲.
آهو خانه ۱۶۷

ا

ابوهه ۲۰۸.
ابهو ۱۳۴.
اٽمانے ۲۶۵.
اٽاوه ۴۹. ۵۲. ۵۶. ۵۷. ۵۸. ۵۹. ۷۴.
۴۳۲.
اٽک، اٽک بنارس [پرگنه، کوٽ، مقام،
سيند] ۱۸۶. ۱۹۱. ۱۹۵. ۲۰۹. ۲۱۰.
۲۱۱. ۲۱۲. ۲۱۳. ۲۱۶. ۲۲۶. ۲۳۳.
۲۳۴. ۲۳۷. ۲۳۹. ۲۵۰. ۲۵۶. ۲۵۷.
۲۵۸. ۲۷۰. ۲۷۴. ۲۷۶. ۲۸۲. ۲۸۳.
۲۸۸. ۲۹۴. ۲۹۵. ۳۱۰. ۳۱۸. ۳۱۹.
۳۲۴. ۳۲۹. ۳۳۰. ۳۴۱. ۳۴۲. ۳۴۴.
۳۴۵. ۳۴۶. ۳۶۴. ۳۶۷. ۴۰۶. ۴۱۱.
۴۱۴. ۱۳۳۰ ۱۳۸۴. ۱۳۹۱ ۱۳۹۲
۴۶۶.
اجمير ۱۸۷ ۱۸۹ ۱۹۲
اجنا دين ۳۶.
احد ۳۲.
احمد آباد ۴۳۱.
ادهيري (يا هديرے) ڍهيري؟) کلے ۳۸۳.
۳۸۴.
اردن ۳۶.
ارغستان (والۀ) ۱۹۸ ۲۶۴. (آب)
اريحا ۱۷
اريل ۶۱
ارهنگ ۲۰۴. ۲۱۸.
اسلام گڙهه ۱۵۷
اسماعيل خيل ۲۶۰. ۲۷۲.
اسماعيل خيل د گرداب ۳۴۱. ۳۴۸
۳۹۵.
اشنغر ۲۰۰. ۲۰۱. ۲۰۳. ۲۰۴. ۲۰۵
۲۴۰. ۳۰۰. ۳۲۴. ۳۴۷. ۳۵۳. ۳۵۲
۳۶۸. ۳۸۷. ۳۹۱.
اصطخر ۴۵۵.
اصفهان ۱۱. ۱۹۶. ۲۳۰. ۱۳۷۳.
افضل آباد ۲۶۹. ۲۸۸.
افضل آباد باغ ۳۰۷. ۱۰
اغزوسم ۲۱۴.
افغانستان ۱۳۵۷
اکبر آباد و گوري آگره.
اکبر پوره ۳۲۴. ۳۹۱.

اکوړه . وګورئ سرائے.

اکیلي ۱۵۱.

الاهور ۵۸.

الله داد کلے وګورئ زیارت شیخ الله داد.

الیا، ایلیا. ۱۷ ۲۴.

امازیو ګړی ۳۵۳. ۳۷۸. ۳۸۰. (ګړهی)

امیر ۲۹۳.

انارو کڅ ۲۶۵.

انباله ۱۵۴

انبارډیر ۲۴۹.

انبیر ۲۹۷.

انتري ۱۵۷ ۱۷۱

اندخوے ۱۸۱ ۱۸۳

اندراب ۱۷۷ ۱۷۹

اندهي پور ۳۶۶.

انګو ۳۰۱.

انګوټاپے ۲۴۹. ۲۸۹.

اوجین ۱۲۱ ۱۲۴

۱۸۹ ۱۹۴

اودل (غر) ۱۲۶

اوده (قصبه) ۶۱

اودهـ ۴۲. ۷۲. ۱۱۴

اوډیسه/اوړیسه ۱۶۲. ۱۶۶.

اورد ۱۹

اورنګ آباد ۱۹۴ ۱۹۵.

اوش ۴۲۲. ۴۲۳. ۴۶۴.

اونتګړهـ ۶۶. ۶۷ ۶۹

ایران ۱۸۷ ۱۹۶

۳۳۴. ۱۲۹۱

ایسوړي ۲۷۰. ۳۸۶. ۴۰۹.

ایلم ګودر ۲۸۰.

ایلیا وګورئ الیا.

اینخرے ۲۶۱.

ب

بابارتا ۲۴۶.

باباقراچشمه ۲۰۷.

باجګاه ۱۷۷

باجوړ ۴۵. ۲۰۲. ۲۰۴. ۲۰۵. ۲۰۶.

۲۰۷. ۲۰۸. ۲۰۹. ۲۱۱. ۲۱۲. ۲۱۸.

۲۸۰. ۲۸۱. ۳۷۹.

بادر خیل ۴۱۲.

بادل ګړهـ (د ګوالیار د کوټ دروازه) ۵۷.

باره ۶۳

باري ۵۹.

۱. بازار ۲۴۱.

۲. بازار ۲۸۰.

بازارونه ۳۶۸.

۱ باړه ۲۴۲. ۲۴۶.

۲. باړه ۲۱۸. ۲۷۷.

باشول ۲۰۰.

. باغ ۲۵۹.

۲. باغ (د اوانو) ۲۲۵. ۳۰۲. ۳۰۴.

۳۰۵. ۳۴۶. ۴۱۶.

۳. باغ (د افضل آباد) ۲۶۱.

۴. باغ (د شریف) ۴۰۴. ۴۰۵.

۵. باغ (د مصري بانډې) ۳۱۵.

باګرام. وګورئ پېښاور.

. بالاحصار ۲۹۱.

۲. بالاحصار ۴۰۴.

بالاګهاټ ۱۶۹

باندھو (باندھو گڑھ) ۶۳.
باندہ ۲۴۴.
بانڈے ۳۹۲. ۳۹۳. ۳۹۴.
بانرہ پالي ۲۰۸.
بانگرمؤ ۸۱.
بتي كوٹ ۱۴
بجوار ۱۲۹۵.
بجوارہ ۴۵۹.
بخارا ۱۸۵.
بخعي ۲۶۹.
بداؤن، بدايون ۴۹. ۵۱. ۵۶. ۵۸. ۶۰.
بدخشان ۲۱۰. ۲۸۱. ۲۸۲. ۳۶۵. ۳۶۸.
۱۳۲۲.
بدر ۳۸.
بدربني ۳۸۴.
بديو تاكل ۶۲
بدہ بير ۳۰۰. ۳۰۶. ۱۳۳۵. ۱۳۳۶.
بدہ خيل ۲۹۷.
برار ۱۶۹. ۱۷۱.
بربرحو (جوے) ۲۰۰.
برتوے ۳۷۶. ۳۷۷.
برمول ۲۷۹. ۲۸۱.
برن ۵۲.
بروخي كندہ ۳۳۹.
برھان آباد ۴۹. ۵۲.
برھان پور ۱۷۱. ۱۷۴. ۱۹۴. ۱۲۹۵..
برھنگ ۲۰۴. ۲۱۸.
بست (قلعہ) ۱۹۶.
بصرہ ۳۱.
بصريٰ ۳۶.
بطاح ۳۴.
بعلبک ۴۰.
بغداد ۴۶. ۴۲۲. ۴۲۳.
بكر ۱۹۱.
بكسر ۱۱۶.
بكسر چهترہ (جتهرا يا جيتهرا) ۶۰.
بكلانہ ۱۶۴. ۱۶۵.
بگرامے ۴۱۱.
بلخ ۱۷۷. ۱۷۸. ۱۸۱. ۱۸۲.
۱۸۴. ۱۸۵. ۱۸۶.
بلر ۲۲۶. ۲۳۰. ۱۳۸۴.
بلسا ۱۷.
بلند خيل ۲۹۸. ۲۹۹. ۳۰۰. ۳۰۱.
بلوٹ ۲۸۵. ۱۲۵۹. ۱۲۶۰. ۴۵۹.
بلوٹ (قلعہ) ۸۳.
بلورستان ۲۸۱.
بلهو ۸۶.
بنارس ۶۲. ۱۰۷. ۱۱۰. ۱۱۴. ۱۱۶.
۱۳۱.
بناس ندی ۲۵۱.
بنگ. وگوری بنگال.
بنگال، بنگ ۶۳. ۹۶. ۹۷. ۹۸. ۹۹.
۱۰۰. ۱۰۱. ۱۰۵. ۱۰۶. ۱۰۷ ۱۱۰.
۱۱۱. ۱۱۲. ۱۱۵. ۱۱۶. ۱۱۷. ۱۱۸.
۱۲۰. ۱۲۷. ۱۶۱. ۱۶۲. ۱۶۵. ۱۶۷.
۱۶۸. ۱۸۹. ۱۹۳. ۲۵۰. ۳۳۷.
بنگي خيل ۳۰۲.
بنو، ۲۱۸. ۲۲۴. ۲۲۶. ۲۸۵. ۲۸۷.
۲۹۶. ۲۹۷. ۲۹۸. ۲۹۹. ۳۰۰. ۳۰۱.
۳۰۲. ۳۰۴. ۳۰۵. ۴۰۱. ۴۰۳.

بنور ۱۳۲۵.
بنیر. وګورئ بونیر.
بوړی ۲۶۵. ۲۶۹. ۴۰۴. ۴۱۹. ۴۲۰.
بوستان درګه ۲۹۴.
بوس ډیر ۲۸۶.
بوقه، بوقه پور ۲۴۲.
بونیر ۲۰۵. ۲۰۶. ۲۹۶. ۳۸۰. ۳۸۶.
۱۳۲۸.
بوندي ۲۹۶.
بهار (قصبه، کوټ) ۶۲. ۶۹.
بهار (صوبه، علاقه) ۴۹. ۵۸. ۶۲ ۶۳
۷۱(ا). ۷۲. ۸۱. ۸۲. ۹۶. ۹۷. ۹۹.
۱۰۲. ۱۰۳. ۱۰۷. ۱۱۵. ۱۱۸.
۱۲۱ ۱۲۴. ۱۲۸. ۱۲۹. ۱۴۳. ۱۶۲
۱۶۵. ۱۶۷.
بهاري سرائے، وګورئ سرائے.
بهت (آب) ۱۲۷. ۲۱۱.
بهتواره ۵۵.
بهته ۵۸. ۶۱ ۶۲. ۶۳.
بهداور ۴۹:
بهرائچ ۸۵. ۱۱۴.
بهرکند، بهیرکند. ۱۰۴.
۱۱۰ ۱۱۱. ۱۱۴.
بهکر ۴۵.
بهوراسه ۱۷۱.
بهرګاؤن ۴۹. ۵۲. ۷۳.
بهیر ۲۰۸. ۲۲۸. ۲۳۸.
بیاک ۶۱.
بیانه ۴۹. ۵۵. ۶۰. ۶۵. ۶۶. ۶۹. ۱۰۴.
۱۳۲. ۱۴۴. ۱۶۱. ۱۶۲. ۱۲۹۶.
بیت المقدس. ۱۷. ۲۹. ۰ ۳۱.(الیاهم
وګورئ).
بیت جبرین ۳۶.
بیجاپور ۱۷۳. ۱۷۴. ۴۰۲.
بیجانګر ۱۲۱.
بیدول ۱۲۹۲.
بیلوتنګ ۳۴۳.

پ

پاهین ۲۵۸.
پاني پت ۴۹. ۸۴. ۲۱۶.
پپهوند ۶۲
پټن ۲۸۲.
پټنه ۶۲ ۶۳ ۱۰۲ ۱۰۳
۱۵۵. ۱۶۲. ۱۶۷. ۱۶۸. ۳۳۷.
پټیاله (د خټکو د علاقې یوه برخه). ۲۲۵.
۲۶۲. ۲۶۶. ۲۶۷. ۴۰۱. ۴۰۸. ۴۱۲.
۴۱۳.
پټیالي (د هندوستان یوه قصبه) ۴۹. ۵۹.
۶۰.
پرانګ ۲۴۰. ۳۲۴.
پښاور [علاقه او ښهر (باګرام)] ۱۷۳.
۱۷۸. ۱۸۷. ۱۹۶. ۲۰۰. ۲۰۱. ۲۰۳.
۲۰۶. ۲۰۸. ۲۰۹. ۲۱۰. ۲۱۲. ۲۲۵.
۲۲۸. ۲۳۴. ۲۳۵. ۲۴۴. ۲۴۵. ۲۴۷.
۲۵۴. ۲۵۵. ۲۵۶. ۲۵۷. ۲۵۸. ۲۷۴.
۲۷۶. ۲۷۹. ۲۸۲. ۲۸۳. ۲۸۶. ۲۸۸.
۲۹۴. ۲۹۷. ۳۰۴. ۳۰۶. ۳۰۷. ۳۰۹.
۳۱۰. ۳۱۱. ۳۱۳. ۳۱۴. ۳۱۵. ۳۱۶.
۳۱۷. ۳۱۸. ۳۱۹. ۳۲۱. ۳۲۳. ۳۲۴.
۳۲۵. ۳۲۸. ۳۲۹. ۳۳۴.۳۳۵. ۳۴۱.

۳۴۲. ۳۴۳. ۳۴۵. ۳۴۶. ۳۴۷. ۳۵۱.
۳۵۳. ۳۵۴. ۳۵۶. ۳۵۹. ۳۶۰. ۳۶۱.
۳۶۴. ۳۶۵. ۳۶۶. ۳۷۳. ۳۷۴. ۳۷۵.
۳۷۶. ۳۷۷. ۳۸۱. ۳۸۸. ۳۹۱. ۳۹۳.
۳۹۸. ۳۹۹. ۴۰۲. ۴۰۳. ۴۰۴. ۴۰۶.
۴۰۷. ۴۱۱. ۴۱۲. ۴۱۴. ۱۳۲۹
۱۳۹۱. ۱۳۹۵. ۱۳۹۶. ۱۴۱۳. ۱۴۲۲.
۱۴۳۳. ۱۴۳۵.
پښتونخوا ۱۴۰۷.
پکلی ۲۹۸. وګورئ سوته هم.
پلوسئ ۲۶۸.
پلوک منزل ۱۶۲
پلۀ چندے ۲۷۸.
پـنـجـاب ۴۷. ۸۳. ۱۰۲
۱۵۴. ۱۵۶. ۱۵۷. ۱۶۰.
۱۶۶ ۲۱۰.
پنجډیر ۲۴۶. ۳۶۶. ۳۹۸.
پنجشیر ۱۷۸
پنجکوړه (سیند) ۲۰۶. ۲۰۷.
پندو ۳۹۸.
پنډ دومیل ۲۴۶.
پني پیر ۲۸۶.
پوټهار۔۳۰۴.
پیتاؤ ۲۵۹. ۳۲۸.
پیرپوئ، پیرپیاوي ۲۷۲. ۳۲۹. ۳۳۷.
پیر زین الدین کلے ۳۸۴.
پیرسباک (ګودر او کلے هم) ۲۲۹. ۲۸۲.
۲۸۳. ۲۸۸.
پیر کلے ۲۴۳. ۳۸۳. ۳۸۴. ۳۹۸.
پیر کورونه ۳۸۴.

ت

تاراګړهـ ۱۷۵ ۱۷۶ ۲۳۶.
تالاش ۲۰۲.
تانو ۲۷۷. ۳۴۰.
تـخـت، تـخـت کوټ ۲۶۶. ۲۶۷.
۲۷۶. ۲۹۰. ۳۲۰. ۳۴۹. ۳۵۷.
ترک (د ترکو د ملک په معنٰي) ۶۲.
ترکستان ۲۸۲.
ترکے غاښے ۲۴۹.
ترهت ۶۲.
تري ۲۰۵.
تـري بـولاق (مـحـال) ۲۳۶. ۲۳۷. ۲۵۷.
۲۷۱. ۲۹۰. ۲۹۷. ۳۱۳. ۳۱۷. ۳۱۸.
۳۱۹. ۳۲۰. ۳۳۷. ۳۴۶. ۳۴۸. ۳۴۹.
۳۵۳. ۳۵۶. ۳۵۸. ۳۵۹. ۳۷۲. ۳۷۴.
۴۰۸. ۴۰۹. ۴۱۶.
تک ۱۹۸.
تل، تهل ۲۱۸. ۲۲۶.
تند ۲۷۷.
تنول ۲۰۹.
تـوتـکے ۳۴۵. ۳۶۷. ۴۱۴. ۴۱۵. ۴۱۸.
۴۲۰.
توتیالے غاښے ۴۰۸.
توده چینه ۴۱۶.
توران ۱۸۵.
توران خیل ۳۲۰.
تورڅپر ۲۲۵. ۲۶۲.
تورډهیر ۳۴۰.
تورغر ۲۸۱.
تور ورسک ۱۳۲۷. ۱۳۲۸

تـــــورو ۴۷۹. ۳۸۲. ۳۸۵. ۳۸۶. ۳۸۷.
۳۸۸.
تول ۱۷۸
توهه ۲۶۱.
تهاره ۴۳۲.
تهتره. وګورئ تهتري.
تهترے ۲۰۰. ۲۵۵. ۲۵۶.
تيـــــراه ۱۷۲ ۲۰۴. ۲۱۲. ۲۱۳. ۲۱۴.
۲۱۵. ۲۱۶. ۲۱۸. ۲۳۶. ۲۴۸. ۲۷۷.
۲۷۸. ۲۷۹. ۲۹۸. ۳۲۰. ۳۵۹. ۳۹۸.
۳۹۹. ۴۱۵.
تيزنړئ ۲۰۱.

ټ

ټاپے ۲۶۶،۲۶۷. ۲۷۵.
ټانډه خواص پور ۹۲. ۹۳. ۱۶۵.
ټټه ۱۹۱
ټل ۱۳۳۰
ټوټي (غر. علاقه) ۲۰۴. ۲۷۸.
ټهنډه کوهے ۲۴۲.
ټيــــري ۲۲۶. ۲۶۳. ۲۶۶. ۲۹۷. ۲۹۸.
۳۰۶. ۳۲۲. ۳۴۹. ۳۵۵. ۳۵۷. ۳۵۸.
۳۶۸. ۴۰۹. ۴۱۰. ۱۳۲۶. ۱۳۳۶.

ج

جاپے ۲۸۰.
جاجهو ۳۱۹.
جال ۳۰۴. ۳۰۵. ۴۱۶.
جام ۱۹۵
جبه ۲۷۲. ۲۷۳. ۲۹۴.
جبار قبر ۴۰۴.
جتهوا. وګورئ بکسر چهترا.
جده ۱۰. ۱۲.
جرتولي ۷۳.
جګدلي ۱۸۸ ۲۸۴. ۳۹۹.
جګناتهه (بتخانه) ۱۶۷
جـــلال آبـــاد. ۱۷۸ ۲۴۰. ۲۹۶. ۳۰۶.
۳۰۷. ۳۱۴. ۳۱۶. ۳۲۸. ۳۶۴. ۳۶۵.
۳۹۹. ۴۰۰. ۴۰۳. ۴۰۶. ۴۱۱. ۴۲۰.
جلالي. وګورئ کول.
جلاليا ۲۹۵.
جـلبـي ۲۳۳. ۲۴۰. ۲۴۱. ۲۴۸. ۱۵
۳۳۱. ۳۳۹. ۳۴۰. ۳۴۲. ۴۰۵.
جلف ۳۶.
جلهوره (طبيله) ۱۲۸۶
جليسر ۶۰. ۶۵
جـمرود ۲۸۳. ۲۵۵. ۲۸۰. ۲۹۸. ۳۰۹.
۳۱۰. ۳۱۳. ۳۳۱. ۳۵۹. ۴۰۳. ۴۰۷.
۴۱۱. ۴۱۵.
. جمون؟ ۲۵۹.
۲. جـمـو، جـمون (پښتونخوا کښې) ۲۶۱.
۲۶۶. ۲۶۸. ۲۷۲. ۲۷۷. ۳۰۰. ۳۰۲.
۳۱۹. ۳۲۰. ۳۲۲. ۳۲۳. ۳۵۵. ۳۵۶.
۳۵۷. ۳۵۸. ۳۶۰. ۳۶۱. ۳۷۷. ۴۰۳.
۴۰۸. ۴۱۳.
جندول ۲۰۶. ۲۰۷.
جنګ وړی، سلطان پوره ۲۰۱.
جُنير ۱۲۹.
جودهپور ۱۳۲ ۱۳۴.
جـون (آب، دريـــاب) ۵۶. ۵۷. ۶۰ ۶۶
۱۴۹. ۱۶۱
جونپور ۴۹. ۱

۵۸. ۵۹. ۶۰ ۶۱. ۶۳ ۶۹. ۷۲. ۷۳.
۸۲. ۸۵. ۸۶. ۸۷. ۱۰۲. ۱۰۳. ۱۰۶.
۱۱۵. ۱۱۶. ۱۳۶. ۱۶۲.
جونو غر ۲۲۴.
جهانگیرے ۲۲۹. ۳۱۵. ۳۳۱. ۳۳۹.
۳۴۲. ۳۶۲. ۳۶۸. ۳۷۴. ۳۸۱.
جهرکنه ۱۵۴. (وگوری فیروزپور هم).
جهرنه ۵۴.
جهلم، درياب ۲۲۲.
جهنجهانه ۱۲۶۷.
جیناکور ۲۲۶. ۲۶۱. ۲۷۲. ۳۱۷. ۳۴۵.
۳۴۶. ۳۹۸. ۴۰۴. ۴۱۱. ۴۱۲.

چ

چاتور ۱۳۲.
چارسده ۳۲۴.
چاریکار ۳۱۷.
چترال ۲۸۲.
چترور ۳۰۱. ۳۵۳. ۳۵۷. ۳۵۸. ۳۵۹.
۴۱۷.
. چشمی ۳۳۱. ۳۳۷. ۳۳۸. ۴۰۲.
۱۴۲۴.
۲. چشمی ۳۵۷. ۳۵۹.
چکدره ۱۴۳۴.
چمله ۲۰۶.
چناب (آب) ۲۱۱.
چنار ۶۱. ۶۲. ۱۰۱. ۱۰۴. ۱۰۷. ۱۰۸.
۱۰۹. ۱۱۰. ۱۱۸. ۱۴۷. ۱۵۱. ۱۶۱.
۱۶۶. ۱۲۷۱.
چناور ۶۶.
چنجي يا جنجي ۱۷۳.
چندوار ۴۹. ۵۵. ۵۶. ۵۸. ۶۰. ۶۶.
۱۴۹.
چندوخور ۳۹۶.
چندیري ۶۸. ۴۷. ۸۲.
۱۷۱.
چوبارے ۱۲۵
چوره ۲۰۴. ۴۱۵.
چوسه ۱۱۶.
چوند. ۹۲. ۹۴.
چهپر کهته ۱۶۲.
چین ۱۴۰۷

ځ

ځانده ۱۷۲. ۱۷۳. ۱۹۳.
ځپ ۱۶۵.
ځپره ۲۷۷. ۲۹۳.
ځځوبے ۲۷۸.
ځځله ۲۶۶. ۳۰۳.
ځوتره ۲۱۴. ۲۱۸. ۲۲۴. ۲۲۶. ۲۲۸.
۲۳۶. ۲۶۳. ۲۶۶. ۲۶۷. ۲۷۵. ۲۸۳.
۲۸۸. ۲۸۹. ۲۹۷. ۲۹۸. ۳۰۰. ۳۰۱.
۳۰۲. ۳۰۳. ۳۰۴. ۳۰۵. ۳۲۰. ۳۴۸.
۳۴۹. ۳۵۰. ۳۵۳. ۳۵۷. ۳۶۸. ۴۰۱.
۴۱۷. ۴۱۸.
ځوده ۳۴۳.
ځور پانی ۲۱۵. ۳۲۹. ۳۴۴.

ح

حاجي پور ۹۶. ۹۷. ۱۶۶. ۱۲۹۵.
حبش ۲.
حجاز ۱۵۷.
حسن ابدال ۴۵. ۲۹۴. ۳۲۴. ۳۴۱

.۳۴۲
حصار ۴۹.
حصارتنګ ۴۱۹.
حصارک (موضع) ۲۰۰.
حلب ۳۱.
حمص ۳۶. ۴۰.
حیدرآباد ۱۹۴.

خ

خاص پور وګورئ خواص پور.
خافش ۲۷۹. ۲۸۰.
خاندیس ۱۶۹. ۱۷۱.
خان ګلی ۲۸۶.
خانو ۱۴۲. ۱۴۸.
خاوری ۲۵۷. ۲۶۰. ۳۲۸.
ختن ۲۶۴.
ختکي ګودر ۳۴۶.
خراسان ۴۲. ۴۴. ۱۵۹. ۱۵۷. ۳۰۹.
خضر آباد ۴۷.
خضر زي ۲۴۴.
خطا ۲۶۴.
خلم ۱۸۱. ۱۸۳.
خواجه بصیر ۲۷۶.
خواجه خضر ۲۰۸. ۴۲۵.
۱. خواص پور، خاص پور (د تانډې او سهسرام له متعلقاتو) ۹۲. ۹۳.
۲. خواص پور (د مارواړ په علاقه کښې د جودهپور له متعلقاتو) ۱۳۴.
خورم ۳۵۳. ۴۱۶. ۴۱۷.
خورمه ۳۰۱.
خوړه ۲۶۳. ۲۷۰. ۲۷۲. ۲۷۴. ۲۷۵.
۲۷۷. ۲۸۰. ۲۹۲۰. ۲۹۳. ۱۷
۴۱۴. ۴۲۱.
خوړوبې ۳۵۳. ۳۵۵. ۳۵۶. ۳۵۷.
۱. خوست ۱۷۷ ۱۸۰
۲. خوست ۲۹۶. ۲۹۷. ۳۰۲. ۳۰۶.
۳۵۳. ۴۱۵. ۱۳۲۶. ۱۳۳۲
خوشاب ۱۲۵ ۱۲۶. ۲۰۸. ۲۲۸. ۲۳۸.
۲۸۷.
خویشکي ۳۲۵. ۳۶۸.
خیبر ۲۰۰. ۲۱۰. ۲۱۲. ۲۱۸. ۲۵۴.
۲۵۷. ۲۶۲. ۲۷۹. ۲۸۰. ۲۸۸. ۲۹۸.
۳۰۹. ۳۱۱. ۳۱۲. ۳۱۳. ۳۱۶. ۳۴۵.
۳۵۴. ۳۶۶. ۴۰۶. ۴۱۱. ۴۱۴.
خیر آباد ۲۱۵. ۲۲۶. ۲۳۳. ۲۳۴. ۲۳۵.
۲۵۷. ۲۶۱. ۲۶۷. ۲۷۰. ۲۷۴. ۲۷۹.
۲۸۰. ۲۹۰. ۲۹۵. ۲۹۶. ۳۰۱. ۳۰۲.
۳۱۰. ۳۱۵. ۳۲۹. ۳۳۰. ۳۳۱. ۳۴۰.
۳۴۱. ۳۴۳. ۳۴۵. ۳۴۶. ۳۶۴. ۳۶۷.
۳۷۸. ۳۸۸. ۳۹۰. ۴۰۱. ۴۱۰.

د

دانګلي ۳۰۱. ۳۰۳. ۳۰۵.
دتیه ۱۷۱.
دیر خالد ۳۷.
درسمند ۲۲۸. ۲۹۹. ۳۰۲.
درشخیل ۴۲۰.
درملک ۲۹۰. ۴۱۶.
درویش پور ۶۲. ۶۳
دشت کلان ۱۷۹.
درګی ۲۷۵. ۴۰۹.
دریا خان کلې ۳۴۹. ۳۵۵. ۳۵۹.

دکـن، دکهـن ۱۳۴. ۱۵۹. ۱۶۵. ۱۷۱.
۱۷۲. ۱۷۳. ۱۷۴. ۱۸۸. ۱۸۹. ۱۹۳.
۱۹۴. ۳۱۱. ۳۲۱. ۳۵۵. ۴۲۱. ۱۳۰۸.
دلمؤ ۶۱
دمشق ۳۶. ۳۷. ۳۹. ۴۰.
دمغار ۲۰۵. ۲۵۲.
دمي مالي ۳۰۵.
دندو، دندے ۲۷۶.
دنکوټ و دهنکوټ وګورئ ډینکوټ.
دوآب. وګورئ دوآبه.
۱. دو آبـه، دوآب (هـندوستـان) ۷۴. ۸۳.
۱۵۱ ۱۵۴. ۱۵۵.
۲. دوآبه (پښتونخوا) ۲۰۰. ۲۰۱. ۰
۳۵۴. ۳۹۹. ۳۰۶.
دوران ۳۱۰. ۳۶۰. ۴۲۰.
دولت آباد ۸۷. ۱۶۹
۱. دوه توړے ۲۸۰.
۲. دوه توړے ۳۹۹.
دوه خلي ۲۵۹. ۳۲۶. ۳۰۲.
دهـلي، ډيلي، شاهجهان آباد ۴۶. ۴۷. ۴۸.
۴۹. ۵۱. ۵۳. ۵۴. ۵۵. ۵۶. ۵۸. ۵۹.
۶۰ ۶۱. ۶۴. ۶۶. ۶۹. ۷۱. ۷۹. ۷۴.
۷۵. ۸۳. ۸۵. ۹۱. ۹۹. ۱۰۴. ۱۱۸.
۱۲۰. ۱۲۱. ۱۲۲. ۱۲۴. ۱۲۵. ۱۲۷.
۱۲۹. ۱۳۶. ۱۵۴. ۱۵۵. ۱۵۷. ۱۶۰.
۱۶۱. ۱۶۲. ۱۶۳. ۱۸۷. ۱۹۰. ۲۱۰.
۲۳۵. ۲۵۰. ۲۵۶. ۲۵۸. ۳۳۷. ۳۴۸.
۳۵۴. ۳۷۷. ۱۲۶۸. ۱۲۹۱. ۱۳۸۰.
دهوبيان ۳۸۰.
دهوپامؤ ۵۷.
دهـولپـور ۴۸. ۵۸. ۶۵. ۶۶. ۶۷. ۶۹
۱۷۲.
ديبالپور ۴۶. ۱
ديوپاري ۶۲.
ديوګړه ۱۷۲. ۱۷۳. ۱۹۳.

ډ

ډاګونه، ډاګی ۲۷۲.
ډکـــه ۲۳۷. ۲۳۸. ۲۴۰. ۲۷۸. ۳۱۴.
۳۱۶. ۴۱۴. ۴۲۰.
ډنبره ۲۶۱. ۲۶۵. ۴۲۱.
ډنګهنګ ۲۷۰. ۳۶۰. ۳۸۶.
ډنګرزي ۲۷۰. ۲۸۷. ۳۸۶.
ډوډه ۲۹۰. ۳۰۸. ۳۲۰. ۴۰۲.
ډونګر پور ۱۰۲.
ډهيری ۳۹۵. وګورئ ادهيری کلے هم.
ډهيـري کلے ۳۸۴. ۳۹۸. وګورئ ادهيری
کلے هم.

ذ

ذوالحليفه ۱۹

ر

رابهن (رود) ۱۲۸۲.
راجګړ ۲۶۶. ۲۶۷. ۱
راجګل ۴۱۵.
راولپنډي ۲۱۱.
راوي (آب) ۱۲۵.
رائيسين ۱۲۷. ۱۲۹. ۱۳۰. ۱۳۲. ۱۵۴.
رامے ګانو ۵۷.
رخنګ ۱۹۳.
رستم ۲۷۸.
رشکی توړے ۳۴۵.

رمله ۳۶:
رنتمبور ۵۸. ۱۲۸. ۱۳۴. ۱۳۹.
۱۴۲ ۱۴۴ ۱۴۵ ۲۵۰.
روپړ ۱۵۱. ۲۱۷
روضه الجنت ۱۳۱۱
روم ۴. ۵. ۱۵ ۲۰. ۳۶. ۳۷. ۴۰. ۷۹.
روه ۳۹۸. ۴۲۵. ۴۳۱. ۱۳۵۷
رهب (آب) ۵۸.
۱. رهتاس (د بهار د علاقې) ۱۰۷
۱۰۹ ۱۱۰ ۱۱۱ ۱۱۳ ۱۱۴
۱۱۶ ۱۲۰ ۱۲۴. ۱۵۱
۲. رهتاس (د پنجاب دضلع جهلم) ۱۲۶
۱۲۷ ۱۴۷ ۲۱۱.
ریپړي ۴۹. ۵۲. ۵۳. ۵۷. ۵۹. ۶۵ ۸۰.
ریسي (گودر، علاقه) ۱۷۷. ۲۲۴. ۲۲۵.
۲۷۶.
ریواړي ۱۵۹

ز

زاخیل ۲۷۰. ۲۷۲. ۳۸۵. ۳۸۶. ۳۸۸.
۳۹۳.
زمانیه ۱۲۷۸.
زړه مینه ۲۴۳.
زیارت، مزار د شیخ ۲۵۹. ۲۶۹. ۳۲۵.
۳۲۷. ۳۴۵. ۳۵۰. ۳۶۸. ۳۸۶. (زیارت)
۴۰۲. ۴۰۸.
زیارت شیخ الله داد ۲۵۸. ۲۷۵. ۲۵۸.
زیارت شیخ مرزا ۲۹۴. ۳۷۵.
زیارت د کلال ۳۸۲.
زیران ۳۰۱.
زیړ گودر ۴۰۲.
زیره ۲۲۵. ۲۶۶. ۲۶۸.
۲۹۲. ۳۰۱. ۴۱۳. ۴۲۱.

ځ

ځلوزي کلي ۲۷۲. ۲۹۲. ۲۹۳. ۲۹۴.
۳۶۱. ۳۶۵. ۳۷۳. ۳۷۵. ۴۰۴.

س

سادهوره ۴۷.
سارن ۵۶. ۶۳
سارنګپور ۱۲۱. ۱۲۷ ۱۲۸ ۱۶۴
ساړه تړی ۲۷۳. ۲۷۴. ۳۱۷.
سالیر ۱۹۴
سامانه ۴۷. ۸۳. ۴۳۱.
سبهنړ ۳۴۱. ۳۶۷.
سپاهان. وګورئ اصفهان.
سیري (آب، قصبه) ۶۸
سپین غر ۳۰۱.
۱. سپین کاني ۲۶۷. ۳۲۹. ۳۳؟. ۰
۳۴۵؟
۲. سپین کانی ۲۶۹. ۳۲۹؟ ۳۳۰؟. ۳۷۰؟
۳۷۶؟
ستلج (آب) ۲۱۰.
ستوانش ۱۲۱ ۱۲۸ ۱۲۹.
سدراونړواله ۲۲۴.
سدوم ۱۴۱۴
سراب ۱۷۹
سراندیپ ۱۱
سرائی اکوړه ۱۷۷. ۱۸۶. ۱۸۸. ۲۲۷.
۲۳۳. ۲۸۵. ۲۵۹. ۲۶۰. ۲۶۹. ۲۷۰.
۲۷۵. ۲۷۶. ۲۷۹. ۲۸۱. ۲۸۹. ۲۹۰.
۲۹۴. ۲۹۶. ۳۰۰. ۳۰۱. ۳۰۵. ۳۰۶.

۳۰۷. ۳۱۰. ۳۱۱. ۳۱۹. ۳۲۰. ۳۲۴.
۳۲۵. ۳۲۶. ۳۲۷. ۳۲۸. ۳۲۹. ۳۴۱.
۳۴۲. ۳۴۳. ۳۴۵. ۳۴۶. ۳۴۸. ۳۵۰.
۳۵۳. ۳۵۸. ۳۶۱. ۳۶۴. ۳۶۵. ۳۶۷.
۳۷۵. ۳۷۶. ۳۷۷. ۳۷۹. ۳۸۰. ۳۸۲.
۳۸۳. ۳۸۴. ۳۸۵. ۳۸۶. ۳۸۸. ۳۸۹.
۳۹۰. ۳۹۱. ۳۹۵. ۳۹۶. ۳۹۸. ۴۰۰.
۴۰۱. ۴۰۲. ۴۰۴. ۴۰۵. ۴۰۶. ۴۰۷.
۴۱۰. ۴۱۲. ۴۱۳. ۴۱۴. ۴۱۷. ۴۱۸.
۴۲۰. ۱۳۸۷ ۱۳۸۸. ۱۳۹۲ ۱۴۲۴

سرایے (د بهاري) ۲۳۹.
سرایے شکر ۵۶.
سرایے (د کالے) ۳۲۴.
سرخاب ۳۹۹.
سرمي ۵۳.
سرکجه ۶۲
سرمل ۱۸۱
سرهند ۴۷. ۴۸. ۴۹. ۵۶. ۸۶. ۱۰۲.
۱۲۴. ۱۵۰. ۱۵۱. ۳۳۳. ۱۲۷۶. ۱۳۱۸.
سرور میله ۲۵۹. ۳۲۶. ۳۲۷. ۳۲۸.
۳۶۰. ۳۶۱. ۴۰۸. ۴۱۸.
سروبے ۲۶۴. ۲۶۵. ۲۹۳. ۴۱۸.
سفید سنګ ۲۰۰.
سقلاب کلے ۲۴۱.
سکیت، سکیته ۵۲. ۵۸. ۶۰.
سیکسر ۲۲۸.
سلطان پوره. وګورئ (د) جنګ وړی.
سلواني ۱۷۱.
سلیمان (کوه) ۱۱. ۱۶. ۴۵. ۴۲۵. ۴۲۸.
۱۲۸۲. ۴۵۴.

سمرقند ۴۷. ۲۰۲.
سمرګړهـ ۱۸۹. ۳۳۷.
سنام ۸۳.
سنبل ۴۹. ۵۲. ۵۶. ۶۲. ۶۴. ۶۵ ۷۰.
۷۳. ۷۹. ۱۱۴. ۱۱۶ ۱۲۴ ۱۶۲
سندهـ (ولایت) ۱۲۶.
سندهـ، سند (آب) ۴۴. ۱۵۷ ۲۰۴.
۲۰۶. ۲۰۸. ۲۱۸. ۳۳۴. ۳۴۶. ۳۶۸.
۱۴۰۶. ۱۴۱۳. ۱۴۱۵
سنده بسته ۲۷۷. ۳۵۴.
سنګارپور ۱۴۲
سنګاؤ ۱۸۸
سنګ پارۀ ۲۱۴. ۲۳۲.
سوات. سواد ۲۰۰. ۲۰۱. ۲۰۲. ۲۰۵.
۲۰۶. ۲۰۸. ۲۰۹. ۲۱۱. ۲۱۲. ۲۱۸.
۲۳۷. ۲۵۰. ۲۷۹. ۲۸۱. ۲۸۲. ۲۸۳.
۲۸۴. ۲۸۵. ۲۸۶. ۴۰۶. ۱۳۸۳.
۱۳۸۵ ۱۴۳۴.
سوالک (کوه) ۴۶. ۱۵۶.
سوته (یا سوته پکلي) ۴۰۹.
سوډهل ۳۵۷. ۳۶۰.
سورت ۱۹۵.
سورډاک ۳۲۹؟
سوریا خیل ۳۵۰. ۳۸۵. ۳۹۶.
سومنات ۴۴.
سوڼ ۲۲۸.
سونیاله ۲۰۹. ۲۲۴. ۲۶۱. ۲۶۸. ۲۹۲.
۲۹۳. ۳۲۹. ۳۳۰. ۳۴۲. ۳۷۳. ۳۷۶.
۴۰۰. ۴۱۴.
سهسرام ۸۶. ۸۷. ۹۲. ۹۶. ۱۰۲.

۱۸۹

سوي سوپر ۶۹.

سيالکوټ ۴۷. ۸۳.

سيد پور پرگنه ۲۱۰.

. سيکري (فتحپور سيکري) ۱۰۲. ۱۳۲. ۱۴۳؟
۱۴۸. (وگورئ فتح پور هم).

۲. سيکري (د ملتان علاقه) ۱۳۰. ۱۳۲؟

۳. سيکري (پښتونخوا) ۲۳۵.
۲۸۶.

سين تنګے ۲۹۷. ۳۰۵.

سينوړے ۲۸۷.

سيهنړ. وگورئ سيهنړ.

ش

شام ۱۴ ۱۵. ۱۷. ۳۱. ۳۲. ۱۵۷.

شامت پور ۳۷۸.

۱. شاه آباد (هندوستان) ۶۵.

۲. شاه آباد (هندوستان) ۱۹۳.

۳. شاه آباد (هندوستان، داخل په سرکار د
سرهند) ۸۶.

۴. شاه آباد ګرهي (پښتونخوا) ۳۲۵.

شاه جهان آباد، وگورئ دهلي.

شاه جهان پور ۱۹۳.

. شاه کوټ (غابښے) ۲۰۱.

۲. شاه کوټ ۲۶۹. ۲۹۴.

شاه منصور ۲۵۰.

شاهي ميله.

شبرغان ۱۸۱. ۱۸۲. ۱۸۳. ۱۸۴.

شرقيه (ملک) ۷۹.

شريف باغ وگورئ باغ.

شري کيره ۲۸۰. ۳۰۶. ۳۲۰. ۳۲۱.

۳۲۵. ۳۶۸. ۱۳۳۰.

شکر دره ۲۲۴. ۲۲۵. ۴۱۷.

شگی ۲۳۴. ۲۹۲. ۳۰۰. ۳۴۳. ۴۰۸.

شلمان ۲۰۰.

۱. شمس آباد (هندوستان) ۵۲. ۵۳. ۵۴.
۵۹. ۶۱. ۶۲. ۶۵.

۲. شمس آباد (پاکستان، پنجاب، چچ)
۲۴۱.

شمشتو ۳۴۵.

شواک ۳۰۶.

شوال ۲۲۴.

شوراوک ۱۲۶۰.

شوړے ۳۰۱.

شوېکے ۳۵۳. ۳۶۰.

شهباز ګرهه ۲۰۸. ۲۴۵. ۲۸۶.

شهيا ۱۱۶.

شيخ تپور ۲۰۲.

شيخ تنګے ۲۲۴.

شيخ شهباز کلے ۳۲۹.

شيخ غرونه ۱۸۹.

شيدو ۲۷۰.
۴۰۱.

شيروالي، شيرواله ۲۰۹، ۳۶۴.

شيشم ۲۲۴. ۲۲۷. ۴۰۹. ۴۱۰. ۴۱۷.

ښ

ښادي پور ۲۸۹. ۲۹۰. ۲۹۱. ۳۰۰.
۳۰۱ ۳۰۲. ۳۲۰. ۳۲۲. ۳۲۳. ۳۳۷.
۳۵۰. ۳۵۷. ۳۶۸. ۳۶۹. ۳۷۷. ۴۰۰.
۴۰۱. ۴۰۸. ۴۰۹. ۴۱۰. ۴۱۳. ۴۱۵.
۴۱.

بنادي خيل ۲۷٦. ۲۹۰.
بنهر علي ۴۳۰.

ط

طنبل غانبے ۲۷۲.

ع

عالم گنج ۱٦۵.
عجم ۳۵. ۳٦.
عراق ۳۱. ۴۲. ۴۴. ۷۹. ۱۵۹.
عرب ۳۱.
عرفات ۱۲
عسفان ۳۲.
علي محمد کلے ۳۸۷.
علي مسجد ۲۰۸. ۲۵۵. ۳۱۳. ۳۱۴. ۳۴۹.
عمرے ۱۴۲۴.
عیسی خیل، عیسی خیلو تنگ ۲۲٦. ۲۳٦. ۲۹۸. ۳۰۲. ۳۴۹.

غ

غازي پور ۱۷ (ا).
غانبکي تورے ۲۷۰.
غالي ډیر، غاله ډیر ۲۸۲. ۲۸۷. ۲۹٦. ۳٦٦. ۴۰۵. ۴۰۷.
غربین. ۲٦۰. ۲٦۱. ۲٦۴. ۲٦۵. ۲۷۰. ۲۷۱. ۲۷۲. ۲۷۵.
غریب خانه . وګورئ لنډي خانه.
غریبه (غریبی) ۲٦٦.
غزني ۳۱. ۴۵. ۴٦. ۲۰۴. ۲۱۰. ۲۱۳. ۲۱۵. ۴۲۳.
غور ۱۱. ۳۱. ۴۲. ۴۳. ۴۴. ۴۵.
غور (درياب) ۴۳۱.
غورزندي ۴۱٦.
غوري ۱۱۷

ف

فارس ۴۵۵.
فتح آباد ۲۸۹.
۱. فتحپور (د ملتان د تسخير په ضمن کښي) ۱۳۰. ۱۳۲؟ وګورئ ۲. سیکری هم.
۲. فتحپور ۱۳۲؟ وګورئ ۲. سیکری هم.
۳. فتحپور (پنجاب) ۲۰۹.
۴. فتحپور (پښتونخوا) ۳۰۳.
فتح جنگ ۲۴٦.
فتح خیل ۳۷۵.
فحل ۴۰.
فرغانه ۱۹۹. ۲۰۹.
فرمل يا فرملي ٦۲۴.
فره ۱٦۱.
فقیر میله ۳۲۸.
فیروز (کوه) ۳۱.
فیروز پور (جهرکه) ۱۵۰.

ق

قباء مسجد ۱۳۱۰. ۱۳۱۱.
قتلان ګړی ۲۷۹.
قرمزے ۲٦۰. ۲۷۰.
قصور ۱۹۵. ۳۲۲. ۱۳۸۱. ۱۳۸۲.
قندز، قندوز ۱۸۰. ۱۸۱.
قندهار (بنهر او کوټ) ۳۱. ۴۵. ۱۲۹. ۱۷۷. ۱۸٦. ۱۸۹. ۱۹۵. ۱۹۸. ۲۰۰. ۲۰۱. ۲۰۷. ۲۰۹. ۲۲۰. ۲۳۷. ۴۳۱. ۳۳۲. ۳۳۳. ۱۲٦۰. ۱۲٦۴. ۱۲۷۳.

قنسرین ۴۱.
قنوج ۵۳. ۵۴. ۶۰ ۶۲ ۶۳ ۷۴. ۱۱۵.
۱۲۰ ۱۲۱. ۱۲۴. ۱۶۰.

ک

کابل ۱۰ ۳۱. ۴۵. ۴۷. ۸۳. ۱۲۵
۱۲۶ ۱۲۷. ۱۵۶. ۱۵۷ ۱۵۹. ۱۷۸.
۱۸۷ ۱۹۱ ۱۹۶ ۱۹۸ ۱۹۹ ۲۰۱.
۲۰۲. ۲۰۳. ۲۰۵. ۲۰۸. ۲۰۹. ۲۱۰.
۲۱۱. ۲۱۳. ۲۱۵. ۲۱۶. ۲۲۵. ۲۳۷.
۲۳۸. ۲۳۹. ۲۴۰. ۲۴۱. ۲۴۴. ۲۴۵.
۲۴۹. ۲۵۰. ۲۵۱. ۲۵۲. ۲۵۳. ۲۸۱.
۲۸۳. ۲۸۴. ۲۸۶. ۲۸۸. ۲۸۹. ۲۹۴.
۲۹۶. ۲۹۷. ۲۹۸. ۳۰۴. ۳۰۶. ۳۰۷.
۳۰۹. ۳۱۰. ۳۱۱. ۳۱۵. ۳۱۶. ۳۱۷.
۳۱۸. ۳۲۱. ۳۲۳. ۳۲۴. ۳۳۴. ۳۴۰.
۳۴۵. ۳۵۴. ۳۵۵. ۳۶۴. ۳۶۷. ۳۹۸.
۳۹۹. ۴۰۰. ۴۰۳. ۴۰۶. ۴۱۱. ۴۱۴.
۴۲۰. ۱۳۵۸ ۱۴۱۳ ۴۶۳.
کاتیهر ۷۰.
کاټ ګلی ۲۰۲.
کاټهکړ (وګورئ کهکړ).
کاټلنګ ۲۰۸. ۲۳۵.
کاشغر ۲۰۶. ۲۸۲. ۴۳۰. ۱۴۰۷.
کافرستان ۲۰۷.
کالاپانی ۲۰۱. ۲۴۷. ۱۳۸۴.
کالپی ۵۷. ۵۸. ۶۰. ۶۸. ۷۲. ۷۳. ۷۴.
۱۱۶ ۱۲۸ ۱۶۱ ۱۶۲.
کالنجر ۱۳۴. ۱۳۵. ۱۳۹. ۲۰۲. ۲۰۳.
کالے سرائے وګورئ سرائے.
کامرد ۱۳۸۳. وګورئ کهمرد هم.

کاملپور ۴۶۶.
کانپور ۹۱.
کانتکوله ۱۲۴.
کاني ګورم ۲۰۲. ۲۰۳.
کاوزدره، کواز دره ۲۲۵. ۲۶۲.
کاهین پور ۹۷.
کپور ګرهی، وګورئ امازو ګرهی.
کتنکه ۷۵.
کټهکړه ۱۲۹.
کتې خیل ۳۹۵.
کتې میله. ۳۳۰. ۳۸۵.
کجو تانه ۲۱۳.
کجه (ګودر) ۵۶.
کچ، کچهه. ۱۹۱ ۱۹۴
کچو ترکے ۲۳۰.
کچهواړه ۱۳۴
کربوغه ۲۱۸. ۲۲۵.
کرک ۳۵۰. ۴۱۷.
کرمپور ۳۸۵.
کرهرډنډ ۱۳۲۷
کراکړ ۲۱۱.
۱ کرپه (د ختکو علاقه کښې) ۲۶۱.
۴۰۱.
۲. کرپه (د مومندو علاقه کښې) ۲۸۰.
۴۱۱. ۴۱۴. ۴۱۵.
کړمان ۳۱۰.
کړه او کړه مانکپور ۶۱ ۶۷(ا). ۹۵.
۱۱۵.
کسیغر ۲۶۴.
کشمیر ۲۰۵.

ککي ۳۵۷.
کلانور ۱۶۰. ۱۶۲.
کله ډهیر ۲۰۳.
کلیان (قلعه) ۱۲۸.
کماؤن ۱۵۱. ۱۵۵.
کمرډنډ ۳۲۱.
کمرمیله ۲۹۳. ۳۶۷. ۴۰۸.
کنهله ۴۹.
کنتت. ۶۱. ۶۲.
کنده ۴۰۹.
کنعان ۱۴. ۱۵.
کني ګاؤ ۳۰۲.
کوټ قبول ۱۲۶.
کوتلي خوړ ۳۹۶.
کوره کهاتم پور ۱۵۱.
کوشک فیروز شاه ۵۹.
کول. وګورئ کول جلالي.
کول جلالي ۴۶. ۴۹. ۵۲. ۵۶. ۷۳.
۱۳۶.
کونډ کنداو ۲۶۹.
کونړ ۲۰۵. ۲۵۳.
کوهاټ ۲۱۴. ۲۴۴. ۲۴۸. ۲۷۱. ۲۷۲.
۲۷۴. ۲۷۵. ۲۷۶. ۲۷۸. ۲۸۹. ۲۹۱.
۲۹۹. ۳۰۰. ۳۰۱. ۳۰۲. ۳۰۵. ۳۱۷.
۳۱۹. ۳۲۰. ۳۲۲. ۳۲۳. ۳۴۳. ۳۴۹.
۳۵۴. ۳۶۷. ۳۷۱. ۳۷۳. ۳۷۴. ۴۰۶.
۱۳۳۰.
کوهې (د اپریدیو) ۳۶۰.
کوهې (د فتح چند) ۳۷۸. ۳۹۶.
کهان کهالي ۶۲.
کهته ۲۲۸.
کهراج ۲۰۷. ۲۰۸.
کهروار (قصبه) ۱۲۸۲.
کهکر ۶۱.
کهلګاؤن ۶۲.
کهمرد ۱۸۱.
کهر ۳۲۹. ۳۴۱. ۳۴۴.
کهي ۲۹۲. ۴۱۳.
کیتهل ۴۳۲. ۱۲۹۳.
کیلو کهري ۴۲۳.

ګ

ګاډیو ګودر ۳۴۵. ۳۴۶.
ګاړو ۲۶۱. ۲۹۳. ۴۱۸.
ګجرات ۴۹. ۱۰۴. ۱۰۵. ۱۰۶. ۱۲۰.
۱۲۱. ۱۶۴. ۱۶۵. ۱۸۹. ۱۹۱. ۱۹۴.
۱۲۸۳.
ګدائي خیلو کلي ۲۷۶.
ګدر ۲۰۱.
ګرداب ۳۱۰. ۳۴۱. ۳۸۴. (وګورئ
سوریا خیل هم).
ګردیز ۲۱۵.
ګرګره ۲۱۸. ۲۱۹.
ګرنګ غاښې ۲۷۰. ۳۲۷. ۳۴۳. ۳۷۳.
ګرهي ۱۱۲. ۱۱۳. ۱۱۴. ۱۶۸.
ګل بیله ۳۲۵.
ګنبت (دختکو) ۲۶۷. ۲۸۷. ۲۸۸.
۲۸۹. ۲۹۰. ۲۹۱. ۴۱۳.
ګنبتې ۳۹۱.
ګنبتې غاښې ۲۹۳. ۳۵۷.
ګنبد [ګنبت (د مندړو)] ۳۴۵. ۳۴۶.

ګنداب ۲۷۵.
ګندومک ۳۰۱.
ګنګـا (آب. سیند) ۵۴. ۵۶. ۶۱. ۱۱۱. ۱۱۶.
۱۱۹. ۱۲۳. ۱۶۵. ۱۶۶. ۱۶۷.
ګندپالے ۲۷۲. ۲۷۶. ۲۸۷.
ګوالیـار، ګوالیر ۵۷. ۵۸. ۶۰. ۶۵. ۶۶.
۷۲. ۷۴. ۱۲۴. ۱۲۵. ۱۲۷. ۱۵۴.
۱۵۶. ۱۶۵. ۱۷۱. ۴۰۸. ۱۲۶۶.
۱۲۸۳ ۱۳۰۲
ګورکهتری ۲۰۸.
ګوړ وګوری لکهنوتي.
ګولکنډه ۱۶۵. ۱۷۲.
ګومل ۱۹۸
ګونډوانه (علاقه، ولایت) ۱۶۴.
ګهوړه ګهاټ ۱۶۸.
ګیـدړګـلـی ۳۱۶. ۳۱۸. ۳۲۹. ۳۴۱.
۳۴۵. ۳۴۶. ۳۸۸.

ل

لاچـی (د خټـکـو) ۲۲۴. ۲۵۷. ۲۵۸.
۲۶۷. ۲۷۶. ۲۸۹. ۲۹۷. ۲۹۸. ۳۰۰.
۳۰۱. ۳۰۲. ۳۰۵. ۳۱۹. ۳۲۰. ۳۲۲.
۳۲۳. ۳۴۳. ۳۴۶. ۳۴۸. ۳۴۹. ۳۵۰.
۳۵۳. ۳۵۵. ۳۵۷. ۳۵۸. ۳۶۸. ۳۶۹.
۳۷۲. ۳۷۳. ۳۷۴. ۴۰۱. ۴۰۲. ۴۰۸.
۴۰۹. ۴۱۰. ۴۱۱. ۴۱۵. ۴۱۶.
۲. لاچی (منډر) ۲۴۲. ۲۴۳.
لادو سرائے ۴۹.
لاشوړه. لشوړه ۲۶۳. ۴۰۸. ۴۰۹.
لالسوت ۱۳۲.
۱. لاهـور (پـنجـاب) ۴۵. ۴۶. ۴۹. ۵۵.
۶۵. ۸۱. ۸۳. ۱۱۵. ۱۲۴. ۱۲۵. ۱۲۹.
۱۵۱. ۱۵۴. ۱۵۶. ۱۷۵. ۱۷۸. ۱۸۸.
۱۹۱. ۲۱۰. ۲۱۵. ۲۳۹. ۲۵۰. ۲۶۷.
۲۷۴. ۳۰۴. ۳۱۵. ۳۱۹. ۳۳۵. ۳۴۰.
۳۵۵. ۳۵۶. ۳۶۴. ۳۶۵. ۳۸۶. ۳۹۹.
۱۴۱۸.
۲. لاهور (پښتونخوا، یوسف منډړ) ۳۶۱.
۳۶۳. ۳۸۰.
لتمر ۳۰۵. ۳۵۰. ۳۵۳.
لرګین څلے ۱۳۲۷
لښکر میله ۲۲۶. ۲۹۳.
لغمان، لمغان ۲۰۰. ۲۰۸.
لکړي خوړ ۲۶۹.
لکهنو ۶۸. ۷۲.
۱۳۰۰.
لـکهنـوتي، ګـوړ ۶۲. ۷۰. ۱۰۷.
۱۱۰. ۱۱۱. ۱۱۲. ۱۱۳. ۱۱۴.
۱۲۰. ۱۲۴. ۱۶۳. ۱۶۵. ۱۶۶.
لکهي څنګل ۱۲۹.
۱. لکي ۲۲۶. ۲۲۸. ۲۳۶. ۳۰۲. ۳۰۴.
۲. لکي ۳۵۱. ۳۵۲. ۴۰۱.
لنډے (سیند) ۳۲۴.
لنډيخانه غریب خانه ۲۳۸. ۲۳۹. ۲۵۴.
۲۸۸.
لنډي کوتل وګوری لوارګے.
لـنـګـرکـوټ ۱۸۸. ۱۹۶. ۲۰۱. ۲۵۲.
۲۵۳. ۲۷۸. ۲۷۹. ۲۸۱. ۲۸۶. ۲۹۵.
۴۰۰. ۴۰۷. ۴۱۲. ۴۱۴. ۴۱۸.
لوارګے ۲۵۵. ۳۱۴. ۳۶۵. ۴۱۴.
لـواغـر ۱۷۲. ۲۱۴. ۲۱۵. ۲۱۶. ۲۱۸.

۲۲۴. ۳۰۱. ۳۵۳. ۴۲۱.
لوحاني، حد (د لوحانيو د علاقې حد) ۴۵.
لودهيانه ۱۵۷.
لوړه ميله ۳۹۸.
لهوګر ۲۱۵.

م

ماچهيواړه ۶۴
مارواړ ۱۳۴.
مارهره ۶۰.
ماشوخيل ۳۱۵. خيل يا کلی؟
مالګين ۳۵۷.
مالنير ۱۲۸۵
مالوه ۴۹. ۶۸ ۷۴. ۷۵. ۹۷. ۱۲۰.
۱۲۱ ۱۲۷. ۱۲۸. ۱۲۹. ۱۳۴ ۱۵۴
۱۵۶ ۱۶۲. ۱۶۳. ۱۶۴. ۱۶۹ ۱۷۰
مالدوري ۳۱۷. ۳۴۱. ۳۴۲. ۳۴۴.
ماندو ۴۹. ۱۰۴. ۱۰۵. ۱۶۹. ۱۷۰
مانکی ۴۱۳.
مانيری ۲۲۹.
ماوراء النهر ۴۴. ۴۹. ۳۱۲.
ماهيار ۳۷۷. ۳۸۲.
متهرا ۷۱.
مدائن ۱۴.
مدينه مشرفه ۳۲. ۳۳. ۳۴. ۳۵. ۳۶. ۳۷.
۳۸. ۳۹. ۴۲. ۴۳. ۷۹. ۱۲۷۶. ۱۳۰۵.
۱۳۰۸. ۱۳۰۹. ۱۳۱۰. ۱۳۳۲.
مذار ۳۶.
مرج الروم ۳۷.
مرج الصفر ۴۱.
مرغز ۲۲۹. ۲۴۲. ۴۱۳.
مزدلفه ۱۲
مستوره ۲۱۳. ۲۱۴.
مشهد ۳۳۳.
مصر ۱۹ ۳۲.
مصري بانډه. مصري کوټ ۲۲۹. ۳۱۵.
۳۴۰. ۳۴۲. ۳۴۷. ۳۵۰. ۳۶۸. ۳۷۷.
۳۷۸. ۳۷۹. ۳۸۴. ۳۸۵. ۳۸۶. ۲۸۹.
معظم نګر ۲۹۸.
مغلکي ۲۴۲. ۲۴۳.
مقام ۲۰۸.
مکوړي ۲۶۶.
مکوړيو ډاګ ۳۹۷.
مکه معظمه. ۳۲. ۳۳. ۴۳. ۷۹. ۲۸۱.
۲۸۷. ۴۲۶. ۴۲۷. ۱۲۶۷. ۱۲۰۵.
۱۳۰۸ ۱۳۱۶. ۱۳۷۴ ۱۳۷۹ ۱۲۸۰.
۱۴۱۱ ۱۴۱۳. ۱۴۱۴
مکهډ، مکهډه ۲۲۶. ۲۷۴. ۳۴۶. ۳۵۳.
۳۵۵. ۳۵۶. ۳۶۰. ۴۰۵.
ملاکنډ ۲۰۲.
ملاولي ۵۸.
ملتان ۴۵. ۴۶. ۴۹. ۵۱. ۵۵. ۵۸. ۱۲۵.
۱۲۹. ۱۳۰. ۱۶۹ ۱۹۱. ۲۹۴. ۳۲۳.
۴۲۳. ۱۲۸۲. ۱۲۹۱.
ملکانړی ۲۰۰.
ملندری ۲۱۱.
منجهولي ۵۸.
مندرائيل (قلعه) ۶۶
مندروټي ۳۲۱. ۳۴۲.
مندوخيل ۲۷۰. ۳۴۵.
مندونړي/مندوني ۲۷۱. ۲۷۵.

متهرا گړهـ ۱۴۹ ۱۶۲
متخلي غابنې ۴۱۷.
متصور کلې، منصور خان میله ۴۶۵.
متګلور ۶۵
متهی ۲۵۹.
متیر ۱۱۱
مورنګ ۲۸۲.
موروبه ۲۹۳.
موسې ۴۶۶.
مولیر ۱۹۴.
مونګیر ۱۱۱ ۱۱۲ ۱۱۴.
مهابت پور ۲۴۲.
مهـــــراجــــې. ۲۶۲. ۲۶۸. ۲۹۳. ۲۹۴.
۳۳۷. ۳۴۲. ۳۶۱. ۳۷۶. ۴۱۲.
مهرولي ۴۹.
میان عیسٰي ۳۴۲. ۳۷۴. ۳۹۷. ۴۱۸.
میچنی ۲۴۰. ۳۲۵.
میدان ۲۷۷.
میرټهـ ۴۶. ۱۳۴
میرجارو ۲۴۲.
میرکلان ۲۶۲. ۲۶۸. ۲۶۹. ۲۷۳. ۲۹۳.
۳۷۳. ۴۲۱.
میګزار ۱۰۶
میوات ۵۱. ۵۵. ۱۲۵
میوړه ۲۶۲.

ن

نارنول ۸۶.
نارین ۱۸۰
ناګور ۴۹.
نداباري ۱۲۸۷
نداربارړي ۱۸۸
نرور (قلعه) ۶۷ ۶۸
نری اوبهٔ ۲۹۸. ۳۰۱.
نړې خوړ ۳۵۳.
نریله ۵۱.
نــــړی ۲۳۳.
۱۴۰۸
نړپاله ۲۷۰.
نصرتي ۳۵۳.
نصیبین ۱۱
نظام پور ۲۵۶. ۲۵۸. ۲۶۰. ۲۶۱. ۲۶۸.
۲۷۰. ۲۷۱. ۲۷۳. ۲۷۴. ۲۷۷. ۲۸۹.
۲۹۰. ۲۹۱. ۲۹۳. ۳۱۷. ۳۲۸. ۳۳۷.
۳۴۰. ۳۴۱. ۳۴۲. ۳۴۳. ۳۴۴. ۳۴۵.
۳۷۷. ۴۰۰. ۴۰۱. ۴۰۲. ۴۰۸. ۴۱۰.
۴۱۳. ۴۱۴. ۴۱۷. ۴۱۸.
نل دره ۱۸۲
نمله ۴۰۳.
ننګر ۲۹۸.
ننګرهار ۱۹۷
۲۱۵. ۲۵۴.
نورپور ۱۷۵
نوبــار، نوبهر ۱۸۸ ۲۲۰. ۲۲۶. ۲۲۷.
۲۳۳. ۲۳۷. ۲۴۰. ۲۴۳. ۲۵۲. ۲۵۷.
۲۶۰. ۲۷۰. ۲۷۲. ۲۷۳. ۲۷۹. ۲۸۷.
۲۹۲. ۲۹۳. ۳۰۰. ۳۱۰. ۳۱۶. ۳۱۷.
۳۲۴. ۳۲۶. ۳۳۰. ۳۳۴. ۳۳۵. ۳۳۷.
۳۳۸. ۳۴۲. ۳۴۶. ۳۷۰. ۳۷۸. ۳۷۹.
۳۸۱. ۳۸۳. ۳۸۴. ۳۸۸. ۳۹۳. ۳۹۴.
۳۹۵. ۳۹۶. ۴۰۰. ۴۰۱. ۴۰۸. ۴۱۳.

۴۱۴. ۱۳۲۹ ۱۳۹۴

نوکرام کڅ ۲۴۸.

نولالی پرگنه ۱۶۴

نوے کلے ۲۷۹.

نهالپور ۱۴۲۰

نهاولي ۸۶.

نهرواله ۴۵.

نير (سيند) ۱۹۳

نيل (رود، سيند) ۲۱.

نيلاب سيند ۱۵۷ ۲۱۰. ۲۲۴. (؟)

نيـلاب، غـاښے، ښهر، تهـه ۲۰۹. ۲۲۴ (؟).
۲۲۶. ۲۳۸. ۲۶۱. ۲۶۸. ۲۹۰. ۲۹۱.
۳۲۸. ۳۵۳. ۴۱۳.

نيلبن ۲۴۹. ۳۰۱.

نيل کهره ۱۲۸

نيله هن. وګورئ نيلبن.

و

واصل پرگنه ۱۳۰۳

وتر ۲۲۷ ۳۵۸.

ولـــی ۲۶۵. ۲۶۹. ۳۲۶. ۳۲۷. ۳۷۷.
۴۱۲.

هـ

هانسي ۴۹. ۷۳. ۷۵.

هتکانت ۶۸

هده ۳۳.

هرات ۴۲. ۲۱۰. ۱۳.

هرانه ۸۶.

هـزار خـانی
۱۳۹۳

هزاره ۲۰۹. ۲۳۹. ۱۹

هزرو/حضرو ۲۵۰.

هلدي قصبه ۵۸.

هـنـد، هـنـدوستان ۱۱ ۴۵. ۴۶. ۴.۷. ۱۶
۷۰. ۷۹. ۸۲. ۸۳. ۸۴. ۸۵. ۸.۶. ۹
۹۰. ۹۱ ۹۵ ۹۸ ۹۹. ۱۲۱ ۲۴
۱۳۲ ۱۳۳ ۱۴۴ ۱۴۵ ۱۵۱ ۵۷
۱۶۰ ۱۶۷ ۱۶۸ ۱۶۹ ۱۷۳ ۷۶
۱۷۷ ۱۷۸. ۱۸۱ ۱۸۳ ۱۸۴ ۸۵
۱۸۶ ۱۸۷ ۱۸۹ ۱۹۰ ۱۹۵ ۹۶
۲۰۲. ۲۰۵. ۲۰۸. ۲۰۹. ۲۱۰..
۲۲۴. ۲۲۵. ۲۲۸. ۲۳۳. ۲۳۶.. ۲۵۱
۲۵۶. ۲۶۷. ۲۶۸. ۲۷۴. ۲۸۰.. ۲۸۱
۲۸۲ ۲۸۳ ۲۹۶، ۳۰۸. ۳۱۸. ۳۳۲
۳۳۳. ۳۳۶. ۳۳۷. ۳۴۲. ۳۴۳.. ۳۶۰
۴۰۰. ۴۰۲. ۴۰۵. ۴۰۶. ۴۲۳. ۴۲۸
۴۳۱. ۱۲۷۹ ۱۳۸۲ ۱۴۳۳ ۴۵۵۳.

هندو راج ۲۰۵. ۲۰۶

هندوکوه ۱۷۷ ۲۸۲.

هنډ ۲۴۲. ۲۵۳.

هنډيه ۱۲۸ ۱۲۹

هوتے ۳۷۷. ۳۷۸. ۳۸۲. ۳۸۷.

هوتي. هوتی ۳۷۷. ۳۷۸. ۳۸۲. ۳۸۷۷.

ي

يارحسين ۳۶۴.

يربوع ۳۴.

يرموک (سيند، وادي) ۳۷. ۳۸.

يزد ۱۲

يمامه ۳۵.

يـــوتې ۲۸۹. ۲۹۰. ۳۰۲. ۳۴۸.
۴۰۲. ۴۰۹. ۴۱۰. ۴۱۲. ۴۱۳.

يوسف خيل ۲۷۰. ۲۷۲. ۱۳۴۵